القرآن الکریم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

سُورَةُ الْفَاتِحَةِ

سُورَةُ الْفَاتِحَةِ مَكِّيَّةٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ① وَهِيَ | سَبْعُ اٰيٰتٍ

سورة فاتحه مکی دے | (شروع) دَ الله په نوم سره (چه) ډېر مهربان ډېر زيات رحم کوونکے دے | او په دے کښې اووه ايتونه دي

شروع کوم دَ الله په نوم سره چه لوئے مهربان دَ ډېر زيات رحم خاوند دے۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ② الرَّحْمٰنِ

ټول تعريفونه | الله لره دي | (کوم چه) پالونکے (دے) | دَ مخلوقاتو۔ | ډېر مهربان

ټول تعريفونه الله دَ پاره دي چه دَ ټولو مخلوقاتو پالونکے دے ډېر مهربان

الرَّحِيْمِ ③ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ④ اِيَّاكَ

ډېر بخښونکے | مالک (دے) | دَ ورځے | دَ قيامت | هم ستا

نهايت رحم کوونکے دے چه دَ جزاء دَ ورځے مالک دے۔ (اے الله!) موږ هم

نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ⑤ اِهْدِنَا

موږ عبادت کوو | او هم تا نه | موږ مدد غواړو | وښايه موږ ته

ستا عبادت کوو او موږ هم تا نه مدد غواړو۔ موږ ته

الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ⑥ صِرَاطَ الَّذِيْنَ

لاره | نيغه | لار | (دَ هغو) خلقو

نيغه لاره وښايه دَ هغو خلقو لاره

اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ

(چه) تا انعام کړے دے | په هغوی | نه (دَ هغو چه) | غضب شوے دے

په کومو چه تا انعام کړے دے، نه دَ هغو خلقو (لاره) په کومو چه

عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ⑦

په هغوی | او نه | (لاره دَ) ګمراهانو |

غضب شوے دے او نه دَ هغو کوم چه ګمراه شول۔

المنزل الاول (١)

ع

سُورَةُ الْبَقَرَةِ

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَتَانِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَسِتٌّ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُوْنَ رُكُوْعًا

سورة بقره مدنۍ ده او په دې کښې | (شروع) د الله په نوم سره چه ډېر مهربان او ډېر زيات رحم کوونکے دے | ۲۸۶ آيتونه او ۴۰ رکوعګانې دي

شروع کوم د الله په نوم سره چه ډېر مهربان د ډېر زيات رحم خاوند دے۔

الٓمّٓ ۚ ① ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۚۛ فِيْهِ ۚۛ

الٓمّٓ | دا (هغه) | کتاب (دے) | (چه) شک نشته | په دے کښې

الف، لام، ميم دا (قرآن) هغه کتاب دے چه په دے کښې (هيڅ) شک نشته

هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ② الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

هدايت دے | پرهيزګارانو د پاره۔ | هغه خلق | چه ايمان لري

پرهيزګارانو د پاره هدايت دے څوک چه په غيب باندې ايمان

بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا

په غيب باندې | او قودروي | مونځ | او د هغه نه

لري او مونځونه کوي او څه چه مونږ

رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ③ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

چه مونږ ورکړي دي هغوئ ته | خرڅ کوي | او هغه خلق چه | ايمان راوړي

هغوئ ته ورکړي دي له هغې نه خرڅ کوي او کوم کتاب (اے محمد ﷺ!) په تا باندې

بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ

په هغې چه نازل کړے شو | په تا باندې | او په هغې چه | نازل کړے شول

نازل کړے شوے دے او کوم کتابونه چه تا نه وړاندې (پيغمبرانو باندې) نازل کړے شول

مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ④

له تا نه وړاندې | او په آخرت باندې | هغوئ يقين لري۔

په هغوئ ټولو باندې ايمان راوړي او په آخرت باندې يقين ساتي۔

أُولَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝٥ إِنَّ

دغه خلق | په هدایت باندې دي | د خپل رب د طرف نه | او دغه خلق | کامیابي موندونکي دي . | بیشکه

دغه خلق د خپل پروردګار د طرف نه په سمه لار (روان) دي او هم دوی د عذاب (او د ملامتیا) نه خلاص دي. بیشکه

الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ

کوم خلق چه | کافران شول | برابره ده | په دوی | که ویرې ته دوی | یا | نه | ویروې ته دوی

هغه خلق کوم چه انکار وکړو د هغوی په حق کښې برابره ده که ته هغوی (عذاب نه) ویروې یا نه ویروې

لَا يُؤْمِنُونَ ۝٦ خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ

ایمان نه راوړي دوی | مهر ووهلو | الله | په زړونو د دوی | او په غوږونو د دوی

هغوی هیڅ کله منونکي نه دي . الله تعالیٰ د هغوی په زړونو او غوږونو باندې مهر لګولې دې .

وَعَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝٧ وَمِنَ النَّاسِ

او په سترګو د دوی | پرده ده | او دوی د پاره | عذاب (دې) | لوئې . | او ځینې خلق

او د هغوی په سترګو پرده غوړیدلې ده او د هغوی د پاره ډیر لوئې عذاب مقرر دې . او په خلقو کښې

مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْأَخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ۝٨

هغه دي | چه وائي | مونږ ایمان راوړې دې په الله | او په ورځ | د آخرت | او نه دي هغوی | ایمان راوړونکي

ځینې داسې هم دي چه وائي چه مونږ په الله تعالیٰ او د آخرت په ورځ ایمان لرو ، مګر هغوی مؤمنان نه دي .

يُخَٰدِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ

هغوی دوکه ورکوي | الله (ته) | او هغه خلقو ته | چه ایمان ئې راوړې دې | او نه ورکوي دوکه | مګر | ځانونو خپلو ته

هغوی (په خپل خیال کښې) الله تعالیٰ او مؤمنانو ته دوکه ورکوي حال دا دې چه (په حقیقت کښې) هم خپلو ځانونو ته دوکه ورکوي

وَمَا يَشْعُرُونَ ۝٩ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا ۖ

خو هغوی نه پوهیږي | د هغوی په زړونو کښې | بیماري (ده) | پس زیاته کړه هغوی ته | الله | بیماري

او په دې هم نه پوهیږي . د هغوی په زړونو کښې (د نفاق) مرض دې ، پس الله د داسې خلقو مرض نور هم زیات کړو

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ۝١٠ وَإِذَا قِيلَ

او د هغوی د پاره | عذاب (دې) | درد ورکونکې | په وجه د هغې چه دروغ به ئې وئیل | او هر کله چه | وویلې شي

او هغوی د پاره دردناکه سزا په دې جرم کښې مقرره ده چه همیشه به ئې دروغ وئیل . او کله چه هغوی ته وویلې شي

لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوٓا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ۝١١

هغوی ته | (چه) فساد مه خورووئ | په زمکه کښې | نو وائي | چه مونږ خو | اصلاح کوونکي یو

چه د زمکې په مخ فساد مه کوئ نو وائي چه مونږ خو صرف اصلاح کوونکي یو

أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ۝١٢ وَإِذَا قِيلَ

خبردار | بیشکه هم هغه خلق | فساد کوونکي دي | لیکن | هغوی نه پوهیږي | او هر کله چه وویلې شي

خبردار ! هم دغه خلق فساد کوونکي دي لیکن دوی نه پوهیږي . او هر کله چه هغوی ته

ع ۱

وقف لازم

لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ

هغوی ته (چه) | ایمان راوړئ | څنګه چه | ایمان راوړی دی نورو خلقو | (نو) وائی | آیا مونږ (هم) ایمان راوړو

وو ویلے شی چه (زښتونو) مؤمنانو په شان تاسو هم ایمان راوړئ نو وائی چه آیا مونږ (هم هغه شان) ایمان راوړو څنګه

كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ

لکه څنګه چه | ایمان راوړے دے | بے عقلو | خبردار | بیشکه هم دوئ دی | کم عقل | لیکن

چه (دے) بے وقوفانو ایمان راوړے دے یاد ساتئ چه هم هغوی په خپله بے وقوفان دی ، لیکن

لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚۖ

هغوی نه پوهیږی | او هر کله چه ملاقات کوی | هغو خلقو سره | کوم چه ایمان راوړے دے | نو وائی | ایمان راوړے دے مونږ

هغوی پوهیږی نه . او هر کله چه دا خلق مؤمنانو سره ملاویږی نو وائی چه مونږ هم ایمان راوړے دے .

وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ

او هر کله چه ځان له شی | د خپلو شیطانانو سره | (نو) وائی | چه مونږ (خو) | تاسو سره یو

او هر کله چه د خپلو شیطانانو سره ځان له شی ، نو وائی چه مونږ تاسو سره یو

اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٤﴾ اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ

بیشکه مونږ خو | توقے کوونکی یو | الله | توقے کوی | د هغوی سره | او مهلت ورکوی هغوی ته

مونږ خو په مسلمانانو پورے ملنډے کوو الله تعالیٰ هغوی ته د دے ملنډو سزا ورکوی او مهلت ورکوی

فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ

په ګمراهئ د هغوی کښے | سرګردانه شوی . | هم دا هغه خلق دی | کوم چه | واخستله | ګمراهی

چه په خپله سرتیزئ کښے سرګردانه ګرځی - دا هغه خلق دی کوم چه د هدایت په بدله کښے

بِالْهُدٰى ۠ فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿١٦﴾ مَثَلُهُمْ

د هدایت په بدله کښے | پس ګټه ونه کړه | د هغوی تجارت | او نه شول هغوی لاره موندونکی . | مثال د هغوی

ګمراهی واخستله نو نه خوښے په دے تجارت کښے ګټه وکړه او نه ئے (د حق) لار بیا موندله . د دے خلقو

كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ فَلَمَّآ اَضَآءَتْ مَا حَوْلَهٗ

د هغه چا په شان دے | کوم چه | بل کړو | اور | پس هر کله چه روښانه کړو (اور) | چار چاپیره د هغه

مثال د هغه چا په شان دے چه اور ئے (په تیاره کښے) بل کړو نو هر کله چه ګیر چاپیره ئے رڼا شوه نو الله تعالیٰ

ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِىْ ظُلُمٰتٍ لَّا يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧﴾ صُمٌّۢ

نو واخستله | الله | د هغوی رڼا | او پریښودل هغوی | په تیاروکښے | (چه) هیڅ نه وینی | کانړه دی

د هغوی (د سترګو) رڼا لرے کړه او په توره تیاره کښے ئے پریښودل چه هیڅ نه وینی . (هغوی) کانړه دی

بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿١٨﴾ اَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ فِيْهِ

ګونګیان دی | ړانده دی | پس هغوی | واپس نه راګرځی | یا په شان د ډیر باران | د آسمان دے | چه وی په هغے کښے

ګونګیان دی ړانده دی نو دوی (ګمراهئ نه) بیرته نه راګرځی . یا د دوی مثال د هغه چا دے چه په شیبو شیبو باران

ظُلُمٰتٌ وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ ۚ يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ
په غوږونو خپلو کښې | گوتې خپلې | نو دوی نښاسي | او بریښنا | او گړزار | تیارې
پرې وریږي چه په کښې تیارې دي او گړزار او بریښنا وي نو داخلق د تندر د گړزار د لاسه خپلې گوتې په غوږونو

مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ۭ وَاللّٰهُ مُحِيْطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾
د تندر د گړزار د لاسه | د مرگ د ویرې نه | او الله | راگیر کړي دي | کافران .
کښې نښاسي د مرگ له ویرې نه، او (یاد ساتئ چه) الله تعالیٰ کافران (د هر طرف نه) راگیر کړي دي .

يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ۭ كُلَّمَآ اَضَاۗءَ لَهُمْ
نژدې ده (چه) | بریښنا | وتښتوي | د دوی بینائي | هر کله چه | رڼا اوشي | په دوی باندې
نژدې ده چه اسماني بریښنا د هغوی بینائي وتښتوي هر کله چه رڼا شي په دوی نو دوی

مَّشَوْا فِيْهِ ڎ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ۭ وَلَوْ شَاۗءَ
(نو) روان شي | په هغې کښې | او هر کله چه | تیاره شي | په دوی باندې | نو ودریږي | او که چرې | غوښتلې
په کښې روان شي . او هر کله چه په دوی باندې تیاره خوره شي نو ودریږي او که چرې الله تعالیٰ

اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ
الله | نو خامخا بوتلل | غوږونه د دوی | او سترگې د دوی | بیشکه | الله | په هر څیز باندې
غوښتلې نو د دوی د اوریدلو او کتلو قوت به ئې ختم کړې وو ، بیشکه الله تعالیٰ په هره خبره باندې

قَدِيْرٌ ﴿٢٠﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ ع
قادر دې | اې خلقو! | عبادت کوئ | د خپل رب | هغه چا چه | پیدا کړئ تاسو | او هغه خلق
قدرت لري اې خلقو! د خپل رب عبادت کوئ کوم چه تاسو او هغه خلق چه تاسو نه وړاندې تیر

مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٢١﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا
چه له تاسو نه وړاندې وو | دې د پاره چه تاسو | تقویٰ اختیار کړئ | چا چه | جوړه کړه | تاسو د پاره | زمکه | فرش (غوړیږ)
شوي دي، پیدا کړي دي چه تاسو پرهیزگار جوړ شئ . هغه رب کوم چه ستاسو په خاطر زمکه فرش او اسمان

وَّالسَّمَاۗءَ بِنَاۗءً ۠ وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً فَاَخْرَجَ بِهٖ
او آسمان | چت | او رانکته ئې کړه | د آسمان نه | اوبه | بیا ئې را اوویستلو | د هغې په ذریعه
چت غوندې جوړ کړه ، او د آسمان له اړخه ئې باران ووروولو ، د کوم په ذریعه چه ئې ستاسو

مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا
د میوو نه | رزق | تاسو د پاره | پس مه جوړوئ | الله د پاره | شریک
د خوراک د پاره رنگ په رنگ میوې پیدا کړې نو اوس سره د پوهې خدائې پاک له

وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا
او تاسو | پوهیږئ | او که چرې | یئ تاسو | په شک کښې | له هغه څه نه
شریکان مه جوړوئ . او که چرې تاسو ته په دې (کتاب) کښې کوم چه مونږ په خپل

نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۪ وَادْعُوْا

چه نازل کړی مونږ | په خپل بنده باندې | نو راوړئ | یو سورت | د دې په شان | او راوغواړئ

بنده (محمد ﷺ) باندې نازل کړې ده شک وی نو تاسو هم داسې یو سورت جوړ (کړې) راوړئ او د الله تعالی

شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَاِنْ

خپل مددګاران | سوا | د الله نه | که چېرې | یئ تاسو | رښتونی | خو که

نه سوا خپل ټول مددګاران هم راوغواړئ که چېرې تاسو (په خپله دعوی کښې) رښتونی یئ. بیا که چېرې تاسو

لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ

تاسو ونه کړے شئ | او هیڅ کله به ونه کړے شئ | نو د ویرېږئ | د اور نه | هغه | چه خشاک ئے | خلق

(دا کار) ونه کړے شئ او هیڅ کله به ونه کړے شئ نو د هغه اور نه ووېرېږئ چه خشاک به ئے (نافرمانه) انسانان

وَالْحِجَارَةُ ۚۖ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او کانړی دی | تیار کړے شوی دے | د کافرانو د پاره | او زیرے ورکړه | هغو (خلقو) ته چه ایمان ئے راوړے دے

کانړی وی، (دا اور) کافرانو د پاره تیار کړے شوے دے. او (اے نبی ﷺ!) هغه خلقو ته کوم چه ایمان راوړے او

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ

او کار د نیکئ کړی دی | بېشکه | چه بېشکه د هغوی د پاره | باغونه دی | بهیږی | د هغې لاندې | نهرونه

نیک عمل ئے وکړی، زیرے ورکړه چه هغوی د پاره به داسې باغونه وی چه د هغې لاندې به نهرونه بهیږی.

كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِيْ

کله چه هم | ورکړے شی هغوی ته | د هغې نه | څه میوه | د خوراک د پاره | نو وبه وائی | چه دا خو | هم هغه ده

هر کله چه به هغوی ته د (دې باغونو نه) څه میوه خوراک د پاره ورکړے شی. نو وائی به دا خو مونږ ته وړاندې

رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ

چه راکړے شوې وه مونږ ته | له دې نه وړاندې | او ورته به کړے شی هغوی ته | (میوه) په شان د یو بل | او د هغوی د پاره

هم راکړے شوې ده. او هغوی ته به (د دنیا د میوو سره) مشابه (میوې) ورکولے شی. او په دے (باغونو)

فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙۗ وَّهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ

په دې (جنتونو) کښې | بی بیانې (به وی) | پاکې | او هغوی به په دې (باغونو) کښې | همېشه (وی) | بېشکه الله

کښې به د هغوی د پاره پاکې ښځې وی، او هغوی به په دے باغونو کښې همېشه وی. بېشکه الله د دې خبرې

لَا يَسْتَحْيٖٓ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا ؕ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

نه شرمیږی | چه بیان کړی | څه مثال | د ماشی | یا د دے نه زیات (معمولی) | پس کوم خلق چه

نه نه شرمیږی چه هغه د ماشی یا د دے نه هم د زیات (معمولی) څیز مثال (د بندګانو د پوهولو د پاره) بیان کړی. پس کوم خلق چه

اٰمَنُوْا فَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

ایمان راوړے دے | هغوی خو پوهیږی | چه دا مثال حق دے | د هغوی د رب د طرف نه | او کوم خلق چه

ایمان راوړے دے هغوی پوهیږی چه دا (مثال) د هغوی د رب د طرف نه برحق دے، لیکن هغه خلق کوم چه

وقف لازم

كَفَرُوْا فَيَقُوْلُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهٖ كَثِيْرًا

كافران دي | هغوی وائي | څهٔ اراده ده | دَ الله | دَ دے مثال نه | ګمراه کوی | په دے سره | ډير

انكار ؤكړو وائي چه دَ الله دَ دے (مثال دَ بيانولو) نه څهٔ مقصد دے؟ الله ډير خلق (دَ دے مثالونو په ذريعه) ګمراه

وَّيَهْدِيْ بِهٖ كَثِيْرًا ؕ وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ۝٢٦

او هدايت كوی | په دے سره | ډيرو ته | او نهٔ | بے لارے كوی په دے سره | مګر | فاسقان

كوی او ډيرو ته دَ دے په ذريعه هدايت كوی۔ او په دے سره هغه صرف نافرمانه خلق ګمراه كوی۔

الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۠ وَيَقْطَعُوْنَ

كوم چه | ماتوی | وعده دَ خدائے | دَ هغے دَ ټينګولو نه پس | او پريكوی

هغه خلق چه دَ خدائے پاک سره په ښهٔ شان سره پخه كړے وعده بيا بيا ماتوی او هغه تعلقات ختموی

مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

هغه (تعلق) چه حكم وركړو الله | چه پيوند كړے شي | او فساد خوروی | په زمكه كښے | هم هغه خلق دي

دَ كوموٴ جوړولو چه خدائے پاک حكم كړے دے، او په زمكه كښے فسادونه جوړوی هم دغه خلق

الْخٰسِرُوْنَ ۝٢٧ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا

زيان كاران | څنګه | انكار كوئ تاسو | دَ الله | او (حال دا دے چه) تاسو وئ | مړهٔ (غيرموجود)

زيان كاران دي، تاسو دَ خدائے (دَ وجود) نه څهٔ رنګ انكار كولے شئ حال دا دے چه تاسو موجود نهٔ وئ

فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝٢٨

پس هغهٔ ژوندی كړئ تاسو | بيا به هم هغه تاسو مړهٔ كړی | بيا به ژوندی كړی تاسو | بيا به دَ هغهٔ طرفته | تاسو ګرځولے شئ۔

هغه تاسو پيدا كړئ، بيا به تاسو له مرګ راولی، بيا به مو په آخرت كښے ژوندی كړی، بيا به دَ هغهٔ طرفته راګرځولے شئ۔

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۗ ثُمَّ اسْتَوٰٓى

هم هغه دے كوم چه | پيدا كړل تاسو دَ پاره | څهٔ چه په زمكه كښے دي | ټول | بيا ئے اراده ؤكړه

الله هغه ذات دے كوم چه تاسو دَ پاره دَ زمكے ټول څيزونه پيدا كړل۔ بيا آسمان طرف ته

اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ؕ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ

آسمان طرف ته | پس سم ئے كړل هغه | اووهٔ | آسمانونه | او هغه | په هر څيز پوهه

متوجه شو او اووهٔ آسمانونه ئے پيدا كړل۔ او هغه په هر څيز باندې

عَلِيْمٌ ۝٢٩ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ جَاعِلٌ فِى الْاَرْضِ | ع ٣ ٩

ښهٔ پوهه دے۔ | او هركله چه ؤوئيل | ستا رب | فرښتو ته | چه زهٔ جوړونكے يم | په زمكه كښے

پوهيږی۔ او (اے نبی! ياد كړه) كله چه ستا رب فرښتو ته ؤوئيل چه زهٔ په زمكه باندې يو نائب جوړول

خَلِيْفَةً ؕ قَالُوْٓا اَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا وَيَسْفِكُ

(يو) جانشين | ؤوئيل هغوی | آيا جوړوے ته | په دے كښے | داسے څوك | چه فساد به كوی | په دے كښے | او توئيوی به

غواړم۔ فرښتو عرض ؤكړو (چه اے الله!) آيا داسے مخلوق پرے آباد وے چه فسادونه به كوی او (دَ وينو) ويالے بهوی

الدِّمَآءَۚ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَؕ قَالَ

وينه | او موږ | پاکي بيانوو | ستا د حمد سره | او بزرګي بيانوو | ستا | وُفرمايل (الله)

به تويوی حال دا دے چه موږ (هر وخت) ستا حمد او ثناء کښے مشغول يُو ـ الله ورته په جواب کښے

إِنِّيٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ وَعَلَّمَ ءَادَمَ الْأَسْمَآءَ

بيشکه زهٔ | پوهيږم | په هغه څهٔ چه نهٔ پوهيږئ تاسو | او وُښودل (الله) | آدمؑ ته | نومونه

وُوئيل چه زهٔ په هغه کارونو ښهٔ پوهيږم چه تاسو پرے نهٔ پوهيږئ ـ او الله تعالیٰ آدمؑ ته ټول نومونه

كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسْمَآءِ

د ټولو (څيزونو) | بيا ئے | وړاندې کړل هغه څيزونه | فرښتو ته ـ | او وُئے فرمايل | وُښايئ ماته | نومونه

وُښودل بيا ئے هغه څيزونه فرښتو ته وړاندے کړل ـ او وُئے وئيل چه ماته د دے نومونه وُښايئ

هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ

د دے (څيزونو) | کهٔ چرے يئ تاسو | رښتوني ـ | هغوی وُوئيل | تهٔ پاک يئے | موږ ته (هيڅ) علم نشته

کهٔ چرے تاسو په خپله دعوی کښے رښتوني يئ (په دے باندے فرښتو) وُوئيل اے الله! تهٔ پاک يئے ـ موږ خو دومره

إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ

مګر | کوم چه | تا موږ ته ښودلے دے | بيشکه هم تهٔ يئے | دانا | د حکمت خاوند | وُئے فرمايل | اے آدمؑ!

پوهيږو څومره چه تا موږ ته علم راکړے دے بيشکه چه تهٔ په هر څهٔ باندے پوهه او د حکمتونو مالک يئے ـ الله وُفرمايل اے آدمؑ!

أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل

وُښايه دوی ته | نومونه د دے | پس هر کله چه | هغهٔ وُښودل هغوی ته | د دے نومونه | نو وُئے فرمايل | آيا ما نهٔ وُو وئيلي

تهٔ دوی ته د دے نومونه وُښايه، پس هر کله چه آدمؑ فرښتو ته د دے نومونه وُښودل نو ارشاد وُشو چه آيا ما تاسو ته

لَّكُمْ إِنِّيٓ أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ

تاسو ته | چه هم زهٔ پوهيږم | په پټو خبرو | د آسمانونو | او د زمکے | او زهٔ پوهيږم په هغه چه تاسو ئے ښکاره کوئ

نهٔ وُو وئيلي چه زهٔ د آسمانونو او د زمکے په پټو رازونو باندے ډير ښهٔ پوهيږم او ستاسو په ښکاره خبرو او په

وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ اسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ

او په هغه څهٔ | چه تاسو ئے | پټوئ ـ | او هر کله چه وُوئيل موږ | فرښتو ته | سجده وُکړئ | آدمؑ ته

پټو خيالاتو باندے هم ښهٔ پوهه يم ـ او (ياد کړه) کله چه موږ فرښتو ته حکم ورکړو چه آدمؑ ته سجده وُکړئ

فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ

پس سجده وُکړه دوی | سوا | د ابليس نه | هغهٔ انکار وُکړو | او تکبر ئے وُکړو | او شو

نو بغير د ابليس نه نورو ټولو سجده وُکړه هغهٔ انکار وُکړو او لوئي ئے وُکړه او د کافرانو په ټولي

مِنَ الْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ

د کافرانو نه ـ | او موږ وُوئيل | اے آدمؑ! | وُسيږه ته | او بي بي ستا | په جنت کښے

کښے شمير شو ـ او موږ حکم ورکړو چه اے آدمؑ! تهٔ او ستا بي بي په جنت کښے وُسيږئ ـ

وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ۖ وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ

او خورئ | د هغې نه | فراخه | کوم ځائے نه چه غواړئ | او مه نزدے کیږئ | دے اُونې ته -

او د کوم ځائے نه مو چه خوښه وی بشه خورئ او (یاد ساتئ) دغې (خاص) اُونې ته نزدے مه ورځئ

فَتَكُونَا مِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾ فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا

پس شئ به تاسو | د ظالمانو نه | پس دوکه ورکړه هغوی ته | شیطان | د هغې نه | پس راوے ویستل دواړه

گنی په ځان به زیاتے وکړئ - بیا شیطان دواړه وخړول او د هغه ځائے نه ئے وویستل

مِمَّا كَانَا فِيهِ ۖ وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

د هغه (جنت) نه چه هغه دواړه وو | په هغه کښے | او موږ ووئیل | تاسو ټول لاندې کوز شئ | تاسو نه ځینې | د ځینو

کوم ځائے چه هغه دواړه وو او موږ حکم ورکړو چه (ښکته زمکے ته) کوز شئ تاسو به د یو بل دښمنان

عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلٰى حِينٍ ﴿٣٦﴾

دښمنان (به وی) او تاسو پاره | په زمکه کښے | د استوګنے ځائے (دی) | او فائده | ترڅه موده پورے -

یئ او تاسو د پاره په زمکه باندې تر یو وخته پورے استوګنه او ګذاره مقرر کړے شوے ده -

فَتَلَقّٰى آدَمُ مِنْ رَّبِّهِ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۗ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ

بیا زده کړے | آدم ؑ | د خپل رب نه | څو کلمے | پس توجه وفرمائیله په هغهٔ الله | بیشکه | هم هغهٔ لوئے توبه قبلوونکے

بیا آدم علیه‌السلام د خپل رب نه (د معافئ) یو څو کلمے زده کړے نو الله د ده توبه قبوله کړله بیشکه الله تعالیٰ معاف کوونکے

الرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ

مهربان دے | وفرمائیل موږ | ښکته لاړ شئ | د دے ځائے نه | ټول | پس که چرے | راشی تاسو ته

مهربان دے - موږ ورته ووئیل چه د دے ځائے نه ټول په یو ځائے کوز شئ بیا چه تاسو ته زما د اړخ نه

مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

زما د طرف نه | څهٔ هدایت | پس چا چه پیروی وکړه | زما د هدایت | نو نهٔ به څهٔ ویره وی | په هغوی

هدایت درشی نو چا چه زما د (کتاب) هدایت پیروی وکړه هغوی له نهٔ هیڅ قسم له ویره شته او نهٔ

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيٰتِنَآ أُولٰٓئِكَ

او نهٔ به هغوی غمژن وی - | او کوم خلق چه | انکار وکړو | او دروغ ئے وګڼل | زموږ آیتونه | هم هغه دی

به پرے خفګان راځی - او چا چه انکار وکړو او زما آیتونه ئے دروغ وګڼل هغوی

أَصْحٰبُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾ يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ اذْكُرُوا ع ۴

دوزخیان | هغوی به | په هغے کښے | همیشه وی | اے بنی اسرائیلو ! | یاد کړئ

دوزخیان دی او په دوزخ کښے به تل تر تله پراته وی اے د یعقوب ؑ اولاده ! زما هغه

نِعْمَتِيَ الَّتِيٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا بِعَهْدِيٓ أُوفِ

زما نعمتونه | کوم چه | ما کړی دی | په تاسو | او پوره کړئ | وعدهٔ زما | چه پوره کړم

احسانات را یاد کړئ کوم چه ما په تاسو کړی دی او زما (سره کړے) وعده پوره کړئ چه زهٔ هم تاسو ته

بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٤٠﴾ وَآمِنُوا بِمَا أَنْزَلْتُ

ستاسو عهد | او هم له ما نه | ویریږئ | او ایمان راوړئ | هغه (کتاب) باندې | چه ما نازل کړو

شوے وعده پوره کړم او صرف هم زما نه ویریږئ او په هغه کتاب باندې ایمان راوړئ کوم چه ما ستاسو د

مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ

چه تصدیق کوی | د هغه څه چه | تاسو سره دی | او مه جوړیږئ (هم تاسو) | وړومبنی انکاریان د دے

کتابونو په تصدیق کښے نازل کړے دے ، او د هغوی نه وړاندې هم تاسو د دے منکر مه جوړیږئ

وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا

او مه اخلئ | زما په آیتونو | قیمت لږ | او هم له ما نه | ویریږئ | او مه ګډوئ

او زما د آیتونو په بدل کښے لږه (دنیاوی) معاوضه مه اخلئ او صرف له ما نه ویریږئ ـ او رښتیا

الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾ وَأَقِيمُوا

حق | د دروغو سره | او (مه) پټوئ | رښتونی خبره | او تاسو ښه پوهیږئ | او دُ درولئ

په دروغو کښے مه ګډوئ او رښتیا مه پټوئ په داسے حال کښے چه تاسو په حقیقت باندې پوهیږئ او مونځ

الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴿٤٣﴾ أَتَأْمُرُونَ

مونځ | او ورکوئ | زکوٰة | او رکوع کوئ | د رکوع کوونکو سره ـ | آیا حکم کوئ تاسو

کوئ او زکوٰة ادا کوئ او د عاجزی کوونکو سره (په شریکه الله ته) عاجزی کوئ آیا تاسو نورو خلقو ته

النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ

خلقو (ته) | د نیکئ | او هیروئ تاسو | ځانونه خپل | او تاسو | تلاوت کوئ | د کتاب

د نیکئ حکم ورکوئ او خپل ځانونه درنه هیر دی حال دا دے چه تاسو د الله کتاب لولئ ـ

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ

نو آیا تاسو عقل نه لرئ ؟ | او مدد غواړئ | په صبر | او مونځ (سره) | او یقیناً هغه | خامخا درنده ده

آیا تاسو نه پوهیږئ ؟ پکار دی چه په صبر کولو او مونځ ادا کولو سره د الله نه مدد غواړئ ، بیشکه چه مونځ ګران

إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو رَبِّهِمْ

مګر | په عاجزی کوونکو (نه) | کوم چه یقین لری | چه هغوی | ملاقات کوونکی دی | خپل رب سره

کار دے مګر هغه چاته (آسان دے) چه د الله نه ویریږی ، چه د اګنړی چه هغوی د خپل رب سره ملاویدونکی دی ـ

ع ٥ ٧ ٥ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿٤٦﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ

او چه هغوی | د هغه طرف ته | ورګرځیدونکی دی | اے بنی اسرائیلو ! | یاد کړئ | زما نعمت

او دوی به د هغه طرف ته ورځی ـ اے د یعقوب اولاده ! زما هغه احسانات یاد کړئ

الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾

هغه چه | ما کړے دو | په تاسو | او دا چه ما | فضیلت درکړے وو تاسو ته | په ټولو عالمونو ـ

کوم چه ما په تاسو کړی دی او دا چه ما تاسو ته په ټول اهل جهان باندې فضیلت درکړے وو

وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ

او ووېرېږئ تاسو | د هغه ورځې نه | چه په کار به نه راځي | يو کس | د بل کس | په څه څيز کښې | او نه به شي قبلولے

او ځان د هغه ورځې (د عذاب) نه بچ وساتئ چه هيڅوک به د بل چا هيڅ په کار نه راځي او نه به د چا سفارش

مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٨﴾

د هغه نه | (څه) سفارش | او نه | به اخستے شي | د هغه نه | (څه) معاوضه | او نه به د هغوئ څه مدد کولے شي

قبلولے شي ۔ او نه به د چا نه څه معاوضه اخستے شي او نه به د هغوي مدد کولے شي ۔

وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ

او کله چه خلاصے درکړو مونږ تاسو ته | قوم د فرعون نه | چه ورکولو به هغوي تاسو ته | سخت عذاب

او (ياد کړئ) کله چه مونږ تاسو ته د فرعون د قوم نه خلاصے درکړو چه تاسو ته به ئے سخت عذاب رسولو

يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ وَفِيْ ذٰلِكُمْ

چه ذبح کول به ئے | ستاسو ځامن | او ژوندئ به ئے پرېښودلے | ستاسو ښځې | او په دے کښې ستاسو

ستاسو ځامن به ئے ذبح کول او ستاسو جينکئ به ئے (د وينځو په توګه) ژوندئ ساتلے ۔ او په دے کښې

بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿٤٩﴾ وَاِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ

ازميښت وو | ستاسو د رب د طرف نه | ډير لوئے ۔ | او کله چه | وشلولو مونږ | تاسو د پاره | سمندر

ستاسو د پروردګار د طرف نه ډير لوئے ازميښت وو ۔ او هغه وخت (را ياد کړئ) چه مونږ تاسو د پاره سمندر وشلولو

فَاَنْجَيْنٰكُمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِذْ

پس خلاصے درکړو مونږ تاسو ته | او مونږ غرق کړلو | قوم د فرعون | او تاسو | ورته کتل | او هر کله چه

نو تاسو مو خلاص کړئ او ستاسو په وړاندې مو د فرعون قوم ډوب کړلو ۔ او بيا مونږ موسیٰ سره

وٰعَدْنَا مُوْسٰٓى اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهٖ

وعده واخستله مونږ | موسیٰ نه | د څلويښتو | شپو | بيا | جوړ کړو تاسو | څخے (معبود) | د هغه نه پس

(د توراة ورکولو د پاره) د څلويښتو شپو وعده وکړه نو تاسو د هغه نه پس (د سامري په وينا) څخے (په خدائۍ) ونيولو (د شان)

وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ

او تاسو | ظالمان وئ | بيا معاف کړئ مونږ | تاسو | پس له دے نه | چه تاسو

تاسو په خپل ځان باندې ظلم وکړو ۔ بيا مونږ تاسو ته دے (لوئے جرم) نه پس هم معاف کړئ چه تاسو

تَشْكُرُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاِذْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ

شکر وکړئ ۔ | او هر کله چه مونږ ورکړو | موسیٰ ته | کتاب | او فيصله کن قانون | چه تاسو

شکر وباسئ ۔ او (ياد کړئ) کله چه مونږ موسیٰ ته کتاب او فيصله کن قانون ورکړو چه تاسو سمه

تَهْتَدُوْنَ ﴿٥٣﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ

لاره بيا موميئ ۔ | او هر کله چه | وويل | موسیٰ | خپل قوم ته | اے زما قومه! | بيشکه تاسو | ظلم وکړو

لاره بيا موميئ ۔ او (هغه وخت هم ياد کړئ) کله چه موسیٰ خپل قوم ته وويل چه اے زما قومه! بيشکه تاسو

اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِىِٕكُمْ فَاقْتُلُوْٓا

پہ خپل ځان | پہ (معبود) نیولو | دَ خوسي | پس توبہ وُکړئ | دَ خپل خالق پہ بارګاه کښے | بیا قتل کړئ

پہ معبود جوړولو پہ خپلو ځانونو باندې تاسو ظلم وکړو پس دَ خپل خالق طرف تہ رجوع وُکړئ او خپل کسان

اَنْفُسَكُمْ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِىِٕكُمْ ۭ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۭ

خپل ځانونه | هم دا غوره ده | تاسو دَ پاره | ستاسو دَ خالق پہ نزد | بیا هغۂ توبہ قبولہ کړه | ستاسو

وُوژنئ (چا چہ شرک وکړو) چہ تاسو دَ پاره ستاسو دَ پروردګار پہ نزد هم دا غوره ده بیا الله ستاسو توبہ قبولہ کړه ،

اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ۝54 وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ

بیشکہ هم هغۂ | توبے قبلوونکے | نهایت رحم والا | او هر کلہ چہ تاسو ووئیل | اے موسیٰ! | مونږ بہ هرګز یقین نہ کوو

بیشکہ چہ هغہ معاف کوونکے مهربان دے ۔ او (یاد کړئ) هر کلہ چہ تاسو ووئیل اے موسیٰ! مونږ بہ هرګز پہ تا

لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَاَنْتُمْ

ستا | ترڅو چہ وُ (نہ) ګورو | الله | ښکاره | پس وُنیولئ تاسو | تندر | او تاسو

ایمان نہ راوړو ترڅو پورے چہ الله پہ خپلو سترګو ښکاره وُنہ ګورو نو تاسو باندې تندر راغے او تاسو ورتہ ښکاره کتل او

تَنْظُرُوْنَ ۝55 ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝56

کتل | بیا مونږ تاسو ژوندي کړئ | ستاسو دَ مرګ نہ پس | چہ تاسو | شکر وکړئ .

(تاسو مړهٔ شوئ) بیا مونږ ستاسو دَ مرګ نہ پس تاسو بیا ژوندي کړئ چہ تاسو شکر وکړئ ۔

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۭ

او سورے وکړو مونږ | پہ تاسو | دَ وریځے | او نازل کړل مونږ | پہ تاسو | ترنجبین | او مرزان

او مونږ پہ تاسو دَ وریځو سورے جوړ کړو او پہ تاسو مو مَن او سلوىٰ نازل کړل او مونږ ووئیل

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ۭ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا

(چہ) خورئ | دَ پاکو څیزونو نہ | کوم چہ مونږ تاسو تہ درکړل | او هغوی پہ مونږ ظلم وُنہ کړو | لیکن هغوی پخپله

چہ کوم پاک څیزونہ مونږ تاسو تہ درکړي دي هغہ (پہ شوق سره) خورئ بیا هغوی زمونږ هیڅ نقصان وُنہ کړو بلکہ پہ

اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝57 وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا

پہ خپلو ځانونو | ظلم کوو | او هر کلہ چہ مونږ ووئیل | داخل شئ | پہ دے کلی کښے | بیا خورئ | دَ دے نہ

خپلو ځانونو ئے زیاتے کوو او هر کلہ چہ مونږ ووئیل چہ پہ دے کلی کښے داخل شئ او دَ دے نہ کوم ځائے چہ

حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ

کوم ځائے چہ غواړئ تاسو | پہ فراخئ سره | او داخل شئ | پہ دروازه کښے | سجده کوونکی | او وایئ | توبہ

غواړئ پہ ښۂ خوښئ او (دَ ښار) پہ دروازه کښے سجده کوونکی داخل شئ او بخښنہ غواړئ (چہ)

نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ۭ وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ۝58 فَبَدَّلَ

مونږ بہ معاف کړو تاسو تہ | ستاسو خطاګانے | او زیات بہ ورکړو بدلہ | نیکی کوونکو تہ | پس بدلہ کړلہ

مونږ ستاسو خطاګانے معاف کړو او نیکانو تہ بہ زیات اجر ورکړو ۔ بیا ظالمانو هغہ

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا

هغو ظالمانو | (ریوه بله) کلمه | په ځائے دَ هغه | څه چه ویلے شوی وُو | هغوی ته | پس مونږ نازل کړو

بَدل کړو (او استغفار ئے تو ته جوړه کړه) نو مونږ په ظلم کوونکو باندې دَ

عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿٥٩﴾

په هغو ظالمانو | عذاب دَ اسمان نه | په وجه دَ هغوی دَ نافرمانئ

اسمان نه عذاب راولیږلو ځکه چه هغوی نافرمانه شوی وُو۔

وَاِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ

او کله چه | اوبه وُغوښتے | موسیٰؑ | دَ خپل قوم دَ پاره | نو مونږ دوویل | وُوهه | په خپله همسا | کاڼړي

او (یاد کړئ) کله چه موسیٰؑ دَ خپل قوم دَ پاره اوبه وغوښتے نو مونږ ورته وویل چه دغه ګټه په خپله همسا وُوهه

فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ

پس روانے شوے | دَ هغے نه | دولس | چینے | وُپیژندلو | هر قوم | خپل دَ څښلو ځائے

نو دَ هغے نه دولس چینے راوُخوټیدے هرے قبیلے خپل خپل سبیل جُدا جدا وُپیژندلو

كُلُوْا وَاشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٦٠﴾

خورئ | او څښئ | دَ الله دَ رزق نه | او مه ګرځئ | په مزکه کښے | فساد کوونکی

او مونږ حکم ورکړو چه) دَ الله دَ ورکړے شوی رزق نه خورئ څښئ او په مزکه کښے فساد مه کوئ۔

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ فَادْعُ

او هر کله چه تاسو وویل | اے موسیٰؑ | مونږ به هرګز صبر نهٔ کوُو | په خوراک باندې | هم دَ یو (قسم) | پس دُعا وکړه

او (یاد کړئ) کله چه تاسو وویل چه اے موسیٰؑ! مونږ هر ګز دَ یو قسم په خوراک باندې صبر نهٔ شو کولے پس تهٔ دَ خپل

لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ مِنْۢ بَقْلِهَا

مونږ دَ پاره دَ خپل ربهٔ | چه پیدا کړی | دَ مونږ دَ پاره | کوم څیزونه چه را ټوکوی | مزکه | (لکه) ساګ

رب نه مونږ دَ پاره دُعا وکړه چه مونږ دَ پاره دَ مزکے نه راټوکیدونکی څیزونه مثلاً ساګ

وَقِثَّآئِهَا وَفُوْمِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ؕ قَالَ اَتَسْتَبْدِلُوْنَ

او بادرنګ | او غنم | او مسور | او پیاز | (موسیٰؑ) دُ وویل | ایا تاسو اختتل غواړئ

بادرنګ غنم مسور او پیاز پیدا کړی۔ (موسیٰؑ) دُ وویل ایا تاسو دَ یو غوره څیز

الَّذِيْ هُوَ اَدْنٰى بِالَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ ؕ اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ

هغه | کوم چه معمولی دے | په بدل دَ هغه کښے | کوم چه غوره دے | لاړ شئ | یو ښار ته | هلته به وی تاسو دَ پاره

په بدله کښے یو معمولی څیز اختتل غواړئ؟ پس لاړ شئ یو ښار ته داخل شئ څهٔ چه تاسو

مَّا سَاَلْتُمْ ؕ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ۗ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ

کوم چه تاسو غواړئ | او واچولے شو | په دوی باندې | ذلت | او محتاجی | او هغوی اخته شول | په غضب کښے

غوښتی دی تاسو ته به ملاؤ شی او هغوی باندې ذلت او محتاجی مسلط کړے شول او هغوی دَ الله دَ غضب

مِّنَ اللّٰهِ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ

دَ الله | دا | په دے وجه چه هغوی | انکار کولو | دَ الله دَ آیتونو | او قتلول به ئے

مستحق شول په دے وجه چه هغوی دَ الله تعالیٰ دَ حکمونو نه انکار کړے ؤو او دوی به په

النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٦١﴾

نبیان | په ناحقه | دا | په دے وجه چه هغوی نافرمانی وکړه | او حد نه به زیاتیدل ۔

ناحقه پیغمبران وژل او دا په دے وجه چه هغوی به گناه کوله او له حد نه به وتل

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٕيْنَ

بیشکه کوم خلق چه | ایمان راوړو | او هغه چه یهودیان شول | او نصرانیان (عیسایان) شول | او صابیان شول

بیشکه کوم خلق چه مؤمنان دی او هغه چه یهودیان، نصرانیان او صابیان شول۔

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ

هغه چا چه ایمان راوړو | په الله | او په ورځ دَ آخرت | او عمل ئے وکړو | نیک | نو هغوی لپاره | دَ هغوی اجر

دَ دوی نه چه کوم په الله تعالیٰ او په ورځ دَ آخرت ایمان راوړی او نیک عمل وکړی نو دَ هغوی دَ پاره دَ هغوی

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا

دَ هغوی دَ رب سره | او نه به څه ویره وی | په هغوی | او نه به هغوی | غمژن وی | او هر کله چه واخسته مونږ

دَ رب سره اجر دے او نه به په هغوی څه ویره وی او نه به هغوی غمژن وی او (یاد کړئ) کله چه مونږ

مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ

کلکه وعده تاسو نه | او اوچت کړو مونږ | تاسو دَ پاسه | کوه طور | (چه) ونیسئ | کوم (هدایت) چه مونږ درکړے دے تاسو

تاسو نه وعده واخسته او ستاسو دَ پاسه مو کوه طور اوچت کړو دَ درولو (او حکم مو درکړے ؤو چه) کوم هدایت نامه مونږ تاسو

بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ

مضبوطئ سره | او یاد ساتئ | څه چه په دے کښے دی | چه تاسو | پرهیزګاران جوړ شئ | بیا | تاسو مخ واړولو

درکړے دَ هغه په کلکه ونیسئ او کوم (هدایت) چه په دے کښے دے هغه یاد ساتئ چه تاسو پرهیزګاره جوړ شئ، بیا تاسو دَ دے نه پس

مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَكُنْتُمْ

پس | له دے نه | پس که چرته نه وے | فضل | دَ الله | په تاسو | او دَ هغه مهربانی | نو شوی به وئ

مخ وګرځولو ۔ پس که چرے دَ الله تعالیٰ فضل او مهربانی په تاسو نه وے نو تاسو به ضرور

مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ

تاسو دَ نقصان موندونکو نه ۔ | او بیشکه پوهه یئ تاسو | په هغه کسانو | چه زیاتے ئے وکړو | له تاسو نه

نقصان موندے ؤو ۔ او یقیناً تاسو ته دَ هغو خلقو حال هم معلوم شوے دے کوم چه دَ تاسو نه دَ خالی دَ ورځ

فِى السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٔيْنَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنٰهَا

دَ سبت په باره کښے | پس ووئیل مونږ | هغوی ته | چه جوړ شئ | بیزوګان | ذلیله | پس وګرځولو مونږ دا قصه

(په حقله دَ الله دَ حکمونو نه) تجاوز وکړو نو مونږ دوی ته ووئیل چه (څټی اوس) ذلیل او خوار بیزوګان جوړ شئ پس مونږ دا قصه

نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَ

عبرت | دَهغو دَپاره | چه هغه وخت (موجود) وو | او کوم چه وروستو راتلونکی ؤو | او

دَدے زمانے دَپاره او دے نه پس راتلونکو خلقو دَپاره دَ عبرت ذریعه او دَ الله دَعذاب نه ویریدونکو

مَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَإِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ

نصیحت | دَ پرهیزګارانو دَپاره | او کله چه ووئیل | موسیٰ ؑ | خپل قوم ته | چه بیشکه الله | حکم درکوی تاسو ته

دَپاره نصیحت جوړ کړو ۔ او (یاد کړه) کله چه موسیٰ خپل قوم ته ووئیل چه الله تاسو ته حکم درکوی

أَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ قَالُوْٓا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ قَالَ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ

چه ذبح کړئ | یوه غوا | هغوی وُوئیل | آیا ته مونږ پورے توقے کوے | وُوئیل | زهٔ پناه غواړم | دَ الله

چه یوه غوا ذبح کړئ هغوی ووئیل آیا ته مونږ پورے توقے کوے (موسیٰ) ووئیل الله م دِ (دَ دے خبرے

أَنْ أَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ

له دے نه چه زهٔ شم | دَ جاهلانو نه | هغوی ووئیل | دُعا وُکړه | مونږ دَپاره | دَ خپل رب نه

نه په پناه کښے وُساتی چه په ناپوهه خلقو کښے ؤ شمیرل شم ۔ هغوی وُوئیل (که داسے وی نو) خپل رب ته ووایه چه مونږ ته

يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ قَالَ إِنَّهٗ يَقُوْلُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ

چه بیان کړه | مونږ ته | څنګه ده هغه (غوا) | وُوئیل | هغه | فرمائی | چه هغه | یوه غوا ده | نهٔ بوډۍ

په واضحه ووائی چه دا غوا به څنګه وی ۔ (موسیٰ ؑ) ووئیل چه الله فرمائی چه دا غوا به داسے وی چه نهٔ بوډۍ وی

وَّلَا بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا ادْعُ

او نهٔ وړه وړه | خوانه (ده) | په مینځ دَ دے کښے ده | پس وکړئ | هغه کوم چه درته حکم کیږی | هغوی ووئیل | دُعا وُکړه

او نهٔ وړه ، دَ درمیانی عمر به وی پس تاسو ته چه کوم حکم درکړے شوے دے په هغے عمل وُکړئ ۔ هغوی وُوئیل چه خپل رب ته

لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ؕ قَالَ إِنَّهٗ يَقُوْلُ إِنَّهَا

مونږ دَپاره دَ خپل رب نه | چه بیان کړه | مونږ ته | چه څه دے رنګ دَ هغے | وُوئیل | بیشکه هغه | فرمائی | چه هغه

ووایه چه مونږ ته (دا هم) وُښائی چه دَ هغے رنګ به څنګه وی؟ (موسیٰ ؑ) ووئیل چه الله فرمائی چه دا یوه

بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا ادْعُ

یوه غوا ده | زیړه | بنهٔ زیړ دے | رنګ دَ دے | خوشحالوی | لیدونکی | هغوی ووئیل | دُعا وُکړه

غوا ده تکه زیړه چه په کتو ئے دَ خلقو زړونه خوشحالیږی۔ هغوی ووئیل، خپل رب ته

لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ۙ إِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ

مونږ دَپاره | دَ خپل لا نه | چه بیان کړی | مونږ ته | چه دَ څهٔ قسم ده هغه | یقیناً | هغه غوا | مشتبه شوے ده

ووایه چه هغه مونږ ته صفا صفا ووائی چه هغه غوا به څنګه وی؟ بیشکه دَ هغے غوا پیژندل مونږ دَپاره ګران

عَلَيْنَا ؕ وَإِنَّآ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهٗ يَقُوْلُ إِنَّهَا

په مونږ | او بیشکه مونږ | که چرے وغواړی الله | لار موندونکی یو ۔ | ووئیل | بیشکه هغه | فرمائی | چه هغه

شوی دی او که چرے الله وغواړی نو (اوس) به مونږ ضرور صحیح پته ولګوو (موسیٰ ؑ) ووئیل الله فرمائی چه هغه

بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ

| بالکل سالمه ده | فصل ته | او نهٔ اُوبهٔ ورکوی | ځمکه | چه اړوی | جوتې نهٔ ده | یوه غواده |

یوه غواده چه نهٔ خو په ړیوه کښې جوتې شوی وی او نهٔ فصل ته اُوبهٔ ورکوی صحیح سالمه

لَّا شِيَةَ فِيهَا قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ فَذَبَحُوهَا

| پس هغوی هغه ذبح کړله | سمه خبره | تا راوړه | اوس | هغوی ووئیل | په هغې کښې | نشته دٔ (هیڅ) داغ |

او په داغه په وی هغوی ووئیل چه اوس تاسو ټیک خبره وکړه. نو هغوی هغه غوا ذبح کړله

وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾ وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا

| په هغې کښې | نو تاسو جګړه وکړه | یو سړے | او هغه وخت چه وُوژلو تاسو | چه (داسې) نهٔ کړي | او ګوندی دا نهٔ وو نزدې |

اګرچه هغوی (داسې) کولو ته تیار نهٔ ؤو. او (یاد کړئ) کله چه تاسو یو سړے وُوژلو او په یو بل باندې موالزام وُلګولو

وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ

| وُوهئ دا (مقتول) | بیا مونږ ووئیل | کوم چه تاسو پټولو | ښکاره کوونکے وو | او الله |

او الله پاک ښکاره کوونکے وُو کوم څیز چه تاسو پټولو. نو مونږ حکم ورکړو چه دا (مقتول) دَ ذبح شوې

بِبَعْضِهَا كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ

| چه تاسو | خپلې نخښې | او ښائي تاسو ته | مړي | ژوندي کوي الله | دغه شان | دَ (ذبیحې) په یوه حصه |

غوا په یو ټوټې وُوهئ الله تعالیٰ دغه شان مړي ژوندي کوي او تاسو ته دَ خپلو قدرتونو نخښې ښائي چه تاسو

تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ

| په شان دَ کاڼړي دي | نو هغه | دَ دې نه | پس | ستاسو زړونه | بیا سخت شول | پوهه شئ |

دَ عقل نه کار واخلئ. بیا دَ دې واقعې نه پس (هم) ستاسو زړونه سخت شول نو دا زړهٔ نه دَ (سختۍ) کښې لکه کاڼړي

أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَارُ

| ویالې | دَ هغې نه | چه رابهیږي | او په کاڼړو کښې خو څه (داسې هم) دي | یا دَ هغې نه هم زیات سخت |

یا دَ کاڼړو نه هم زیات سخت دي او بیشکه په کاڼړو کښې څه (داسې کاڼړي هم) دي چه دَ هغې نه دَ اُوبو لوئې لوئې ویالې رابهیږي

وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا

| هغه هم دي | او په هغې کښې څه | دَ هغې نه اُوبهٔ | پس راووځي | چه وچوي | هغه هم دي | او په هغې کښې څه |

او په هغې کښې یقیناً داسې کاڼړي هم دي چه چوي او دَ هغې نه اُوبهٔ بهر ته راووځي او څه داسې هم دي چه دَ

يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾ أَفَتَطْمَعُونَ

| آیا تاسو اُمید کوئ | دَ هغې نه کوم چه تاسو کوئ | بې خبره | او نهٔ دے الله | دَ الله دَ ویرې نه | چه راوُرغړي |

الله دَ ویرې نه ښکته راوغړي. او (یاد ساتئ) چه الله تعالیٰ ستاسو دَ عملونو نه غافل نهٔ دے (مسلمانانو!) آیا تاسو

أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ

| کلام | چه اوریدل به ئې | دَ هغوی نه | یو ډله | او بیشکه | ستاسو وینا | چه هغوی به ایمان راوړي |

هم تاسو اُمید کوئ چه دا (اهل کتاب) به ستاسو خبره ومني، حال دا دے چه په دوی کښې یو ټولے داسې وو چه دَ الله کلام به ئې اوریدو

ع ١٠ ٨ ٨

اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَاِذَا

دَ الله | بیا بیئے | بدلولو هغه | پس په ځے | دَ پوهیدُنه | او هغوی پوهیدل | او هرکله چه

او چه بیئه به ئے پرے ځان پوهه کړو نو بیا به ئے په کښے سره دَ علم او سره پوهے کښے زیاتے کولو ۔ او هرکله چه

لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَا

هغوی یو ځائے شی | هغو خلقو سره | کوموچه ایمان راوړے دے | نو وائی | مونږ هم ایمان راوړے دے | او هرکله چه ځان له شی

دوی مؤمنانو سره مخامخ شی نو وائی مونږ خو ایمان راوړے دے او هرکله چه په

بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

دَ یو | بل | سره | نو وائی | ایا خبروی کوئی تاسو دوی | دَ هغه څه چه پرانستلی دی الله | په تاسو باندے

خپل مینځ کښے ځان له شی نو وائی چه ایا تاسو مسلمانانو ته هغه خبرے ښایئی کوئے چه الله تاسو ته ښکاره کړی

لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٧٦﴾ اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ

چه مناظره وکړی دوی تاسو سره | په هغے | په نزد دَ رب ستاسو | پس ایا تاسو نه پوهیږئ ؟ | ایا هغوی نه پوهیږی ؟

دی چه ستاسو دَ خدائے په مخکښے پرے تاسو سره جګړے کوی ؟ ایا تاسو دَ عقل نه کار نه اخلئ ۔ ایا هغوی ته معلومه نه ده

اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٧﴾ وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ

چه الله | پیژنی | هغه څه چه پټوی ئے دوی | او هغه څه چه ښکاره کوی ئے دوی | او ځینے له دوی نه | امیان دی

چه الله تعالیٰ ته دَ هغوی ټولے پټے او ښکاره خبرے ښکاره او معلومے دی او په هغوی کښے ځنے خلق امیان دی

لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿٧٨﴾

چه نه پوهیږی | په کتاب | سوا دَ دروغو ارمانونو | او نه دی دوی | مګر | ګمان کوونکی ۔

کوم ته چه دَ دروغو دَ ارمانونو نه سوا دَ کتاب الله علم نشته او هغوی صرف ګمانونه چلوی ۔

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ۗ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا

پس خرابی ده | هغو دَ پاره | چه لیکی | کتاب | په خپلو لاسونو | بیا وائی | (چه) دا

پس افسوس دے دَ هغه چا په حال چه اول په خپلو لاسونو کتاب ولیکی بیا وائی چه دا کتاب دَ

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ

دَ الله دَ طرف نه دے | دَ پاره دَ دے چه واخلی | دَ هغے په بدل کښے قیمت لږ | پس خرابی ده | دوی دَ پاره | په سبب | دَ لیکلو

خدائے دَ طرف نه دے دَ پاره دَ دے چه دَ دے په بدل کښے لږ قیمت واخلی ۔ پس دَ دوی لاسونو چه څه ولیکل هغه دَ دوی

اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَقَالُوْا

دَ لاسونو دَ دوی | او خرابی ده | دوی دَ پاره | په سبب دَ هغے | چه هغوی ګټلو | او هغوی وائی

دَ پاره دَ بربادئ (باعث) دی او کوم څه چه دوی (په شان) ګټی هغه به هم دوی دَ پاره دَ افسوس سامان وی ۔ او دوی وائی

لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ؕ قُلْ اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ

هرګز به نه رسی مونږ ته | اور | مګر یو څو ورځے | دَ شمیر | ووایه | ایا اخستے ده تاسو | له خدائے نه

مونږ ته به دَ شمیر دَ څو ورځو نه سوا دَ دوزخ اور هرګز نه رارسیږی ، ووایه چه تاسو دَ الله نه داسے څه دعده

النصف

عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ عَهْدَهٗٓ اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا

خپله وعده | چه هيڅ کله به خلاف نه کوي | الله | د خپلې وعدې | يا وايئ | هغه څه | په الله باندې

اخستې ده چه الله تعالیٰ به د خپلې وعدې خلاف نه کوي يا تاسو (هم داسې) الله سره هغه خبرې تړئ

لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٠﴾ بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓـَٔتُهٗ

تاسو پرې نه پوهيږئ | ولې نه | چا چه وکړه | (څه) ګناه | او راګير کړو | هغه | د هغه ګناه

کوم چه تاسو معلوم نه دي. البته چا چه څه بدي وکړه او هغه د هغه ګناهونو د هر طرف نه راګير کړو

فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

پس هغوي دي | اوسيدونکي د دوزخ | (چه) هغوي به په هغې کښې | هميشه وي | او هغه خلق | چا ايمان راوړې

نو هم داسې خلق دوزخيان دي او هغوي به په دې کښې هميشه وي. او هغه خلق چه ايمان ئې راوړو

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨٢﴾

او عملونه ئې وکړل | نيک | هغه خلق دي | جنتيان | (چه) هغوي به | په هغې کښې | هميشه وي.

او نيک عملونه ئې وکړل هغه خلق جنتيان دي او هغوي به هميشه په دې کښې وي.

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ

او هغه وخت | چه واخستلو مونږ | کلکه وعده | بني اسرائيلو نه | چه عبادت به نه کوئ | مګر صرف | د الله

او (ياد ساتئ) کله چه مونږ د بني اسرائيلو نه کلکه وعده واخستله چه د الله تعالیٰ نه سوا د نورو چا عبادت مه کوئ

١١ ع ٩ / ٩

وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا

او مور پلار سره به | ښېګړه کوئ | او | خپلوانو | او يتيمانو | او مسکينانو سره | او وايئ

او د مور پلار سره نيکي کوئ او د خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو سره (به هم نيکي کوئ) او خلقو سره

لِلنَّاسِ حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا

خلقو ته | ښې خبرې | او ودروئ | مونځ | او ورکوئ | زکوٰة | بيا واوړيدئ تاسو | مګر

په خوږه ژبه خبرې کوئ او مونځ ادا کوئ او زکوٰة ورکوئ. بيا د يو څو کسانو نه سوا تاسو

قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُوْنَ

لږ | له تاسو نه | او تاسو يئ | مخ ګرځوونکي | او هغه وخت چه واخستلو مونږ | کلکه وعده له تاسو نه | چه مه تويوئ

قول (د وعدې نه) واوړيدئ او تاسو مخ ګرځوونکي يئ. او (ياد کوئ) کله چه مونږ تاسو نه وعده اخستې وه چه په خپل

دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ

وينې د يو بل | او مه وباسئ | تاسو خپل | د کورونو خپلونه | بيا | تاسو اقرار وکړو

مينځ کښې وينې مه تويوئ او مه خپل خپلوان د کور کلي نه شړئ. بيا تاسو د دې خبرې کلک اقرار کړے وو

وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُوْنَ

او تاسو ګواه يئ | بيا | تاسو هغه خلق يئ | چه وژنئ | خپل خلق | او بهر ته وباسئ

او تاسو د دې ګواهي هم ورکوئ. او بيا تاسو هغه خلق يئ چه خپل خپلوان وژنئ او يو ټولے د هغوي

فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَإِن

يو ټولے | دَخپل قوم نه | دَ دوی دَ کورونو نه | مِن دکوئ | دَ دوی خلاف | په ګناه سره | او ظلم سره

دَ کورونو نه وُباسئ   او دَ هغوی خلاف په ګناه او زياتی کولو کښے دَ يو بل امداد کوئ

وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ

او که راشی تاسو ته | قيديان | (نو) فديه ورکوئ په (بدل) دَ هغوی کښے | او حال دا دے چه حرام دے په تاسو باندے

او که هغه خلق قيديان شی او تاسو ته راشی نو دَ هغوی دَ خلاصی دَ پاره فديه ورکوئ حال دا دے چه هغوی دَ کورونو

إِخْرَاجُهُمْ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ

وُښکل دَ دوی | نو آيا تاسو منئ | ځينے (حکم) | دَ کتاب | او انکار کوئ | دَ ځينے

نه ويستل دَ سره په تاسو حرام وو، آيا تاسو دَ الله دَ کتاب ځينے حصے منئ   او دَ ځينو نه انکار کوئ

فَمَا جَزَاءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

پس څه سزا ده | دَ هغه چه وُکړی | دا سے | له تاسو نه | سوا دَ رسوائی نه | دَ دنيا په ژوند کښے

پس په تاسو کښے چه کوم سړے دا سے وُکړی دَ هغه سزا دَ دنيا په ژوند کښے دَ ذلت او رسوائی نه سوا نور څه کيدے شی،

وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا

او په ورځ دَ قيامت | به واچولے شی | ډير سخت عذاب کښے | او نه دے الله | بے خبره | دَ هغے نه

او دَ قيامت په ورځ به دا سے خلق په ډير سخت عذاب کښے اچولے شی او خدائے پاک ستاسو دَ عملونو نه

تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ

چه تاسو ئے کوئ | دا | هغه (خلق) دی | چا چه واخستلو | ژوند | دَ دُنيا | په بدله دَ آخرت کښے

بے خبره نه دے ۔ دا هغه خلق دی کوم چه دَ آخرت په بدل کښے دَ دُنيا (ورځو ورځے) ژوندون غوره کړے دے

فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى ع ١٠

پس نه به شی سپکولے | له دوی نه | عذاب | او نه به دوی ته مدد ورکولے شی | او بيشکه موږ ورکړو | موسیٰ ته

پس دَ دوی په عذاب کښے به کمے نه شی کولے او نه به دے هيڅ قسم امداد کيدے شی   او موږ موسیٰؑ له کتاب

الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِن بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ ۖ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ

کتاب | او پرله پسے را وليږل موږ | وروستو دَ دهٔ نه پيغمبران | او ورکړے موږ | عيسیٰ ځوئے دَ مريم ته

ورکړو   او دَ هغهٔ نه پس موږ پيغمبران پرله پسے را وليږل   او حضرت عيسیٰؑ ځوئے دَ مريم له موږ ښکاره او ګنړے

الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُولٌ

ښکاره معجزے | او قوت ورکړو موږ هغهٔ ته | په روح القدس سره | آيا هر کله (چه) | راغے درو تاسو ته | يو پيغمبر

معجزے ورکړے او دَ روح القدس (جبرائيل) په ذريعه موږ دَ هغه مدد وُکړو (دا تاسو عادت شوے دے چه) کله هم تاسو ته يو پيغمبر ستاسو

بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا

هغه حکم | چه نه ئے خوښوی | نفسونه ستاسو | نو تاسو غرور وُکړو | پس يوه ډله | تاسو دروغژن کړله | او يوه ډله

دَ مرضئ خلاف څهٔ حکم راوړے راغلو نو تاسو سرکشی وُکړه بيا څهٔ پيغمبران تاسو دروغژن کړل او څهٔ تاسو

تَقْتُلُوْنَ ﴿۸۷﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ

مو قتلولہ | او هغوی وائی | زمونږ زړونه | په پرده کښے دی | (نه) بلکه | لعنت کړے دے په دوی | الله | د دوی د کفر په وجه

وژل او (یهود) وائی چه زمونږ په زړونو باندې پرده پرته ده، بلکه الله د دوی د کفر په وجه په دوی لعنت کړے دے

فَقَلِيْلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

پس لږ | ایمان راوړی دوی | او هر کله چه | راغے دوی ته | کتاب | د الله د طرف نه

نو ډیر لږ کسان په کښے ایمان راوړی او هر کله چه دوی ته د الله تعالیٰ د طرف نه هغه کتاب راغلو چه د

مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ۙ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ

تصدیق کوونکے | د هغه څه چه | دوی سره دے | او وو دوی د دے نه وړاندې | چه کامیابی ئے غوښتله

هغه (کتابونو) تصدیق کوی کوم چه دوی سره موجود دی او (د کوم په اُمید چه) د خلقو د دے (د نزول) نه وړاندې

عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ

په کفارو باندې | پس هر کله چه | راغے دوی ته | هغه چه پیژندلو دوی | نو د هغه نه ئے انکار وکړو

د کافرانو په مقابله کښے د فتح دُعاگانے غوښتلے. پس هر کله چه دوی ته هغه (هدایت) راورسیدو کوم چه دوی پیژندو نو د هغه

فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾ بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖۤ اَنْفُسَهُمْ

پس لعنت د الله دے | په کافرانو باندې | بد دے هغه څیز | چه خرڅ کړل هغوی د کوم په بدل کښے | خپل ځانونه

نه ئے انکار وکړو نو په داسے انکار کوونکو باندې تل د خدائے لعنت وریږی، ډیر بد دے هغه څیز چه دوی په بدل کښے خپل ځانونه خرڅ کړی دی.

اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ

چه انکار کوی | د هغه | چه نازل کړو | الله | په سبب د حسد کولو | چه نازلوی | الله | خپل رحمت | په چا باندې

(او هغه) دا چه د خدائے د کتاب نه د بغض په وجه انکار کوی چه (ولے) خدائے پاک خپل فضل په هغه چا کوی څوک چه

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ

چه غواړی ئے | د خپلو بندګانو نه | پس اخته شول دوی | په غضب د پاسه د بل غضب | او کافرانو د پاره | عذاب دے

په خپلو بندګانو کښے د هغه خوښ وی پس دوی په لاندې باندې غضب کښے اخته شول او کافرانو د پاره د ذلت عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿۹۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ

د ذلت | او هر کله چه ووئیلے شی | دوی ته | چه ایمان راوړئ | په هغه | چه نازل کړل الله | (نو) وائی | مونږ خو منو

مقرر دے. او هر کله چه دوی ته ووئیلے شی چه کوم څه الله نازل کړی دی په هغه ایمان راوړئ نو وائی کوم چه په مونږ نازل

بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۗ وَهُوَ الْحَقُّ

هغه | چه نازل شوی دی | په مونږ | او انکار کوی دوی | د هغه نه | کوم چه د هغے نه سیوا دی | حال دا دے چه هغه (قرآن) حق دے

کړے شول په هغے خو به ایمان راوړو او د دے نه سوا چه څه دی د هغے نه انکار کوو حال دا دے چه دا (قرآن) ریښتونے دے

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ؕ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ

تصدیق کوی | د هغه څه | چه د دوی سره دی | ته ووایه | پس ولے | وژل تاسو | نبیان | د الله | د دے نه وړاندې

او کوم چه (یعنی آسمانی علم) د دوی سره دے د هغے تصدیق کوی (ددوی) ته ووایه چه که ته د دے نه وړاندې تاسو نبیان ولے وژل که

إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ

کہ چیرے وئ تاسو مؤمنان . | او بیشکہ راغلے ؤ تاسو تہ موسیٰ | پہ روښانہ نښو سرہ | بیا تاسو جوړ کړو

او بیشکہ موسیٰ تاسو تہ ښکارہ نښے راوړے راغلو بیا تاسو ذ دے نہ چرے تاسو مؤمنان یئ .

ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا

ښخے (معبود) | پس لہ دے نہ | او تاسو وئ | ظالمان | او هر کلہ چہ واخستہ مونږ | کلکہ وعدہ تاسو نہ | او اوچت کړو مونږ

پس ذ ښخی عبادت شروع کړو او تاسو ظلم کونو والا یئ . او (یاد کړئ) کلہ چہ مونږ تاسو نہ پخہ وعدہ واخستے وہ او

فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱسْمَعُوا۟ ۖ قَالُوا۟ سَمِعْنَا

تاسو ذ پاسہ | طور | ذ نیسئ | هغہ څہ چہ | مونږ درکړل تاسو تہ | پہ قوت سرہ | او واورئ | دوی ووئیل | مونږ واوریدل

کوہ طور مو تاسو پاسہ اوچت کړے ؤ (او حکم مو درکړو) چہ مونږ کوم (کتاب) درکړے هغہ مضبوط ونیسئ او ښہ واورئ هغوی ووئیل

وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا۟ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۚ قُلْ بِئْسَمَا

او ونہ منل مونږ | او وڅښولے شوہ | ذ دوی پہ زړونو کښے | مینہ ذ ښخی | ذ دوی ذ کفر پہ وجہ | ووایہ | بد دہ هغہ څیز

مونږ واوریدل لیکن منو ئے نہ او ذ دوی ذ کفر پہ وجہ ذ دوی زړونہ ذ ښخی پہ مینہ خړوب شوی وو (اے نبی!) ووایہ چہ

يَأْمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾ قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ

ذ کوم چہ حکم درکوی تاسو تہ | ایمان ستاسو | کہ چیرے | تاسو یئ | مؤمنان | ووایہ | کہ چیرے دی | تاسو ذ پارہ

ستاسو دا (ناقص) ایمان خو تاسو تہ ډیر خراب تعلیم درکوی کہ چرے واقعی تاسو مؤمنان یئ . ورتہ ووایہ چہ کہ چیرے ذ آخرت

ٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟

کور | ذ آخرت | ذ اللہ پہ نزد | خصوصیت سرہ | سوا | ذ نورو خلقو نہ | نو تاسو آرزو وکړئ

کور ذ اللہ سرہ ذ نورو پہ ځائے تاسو ذ پارہ مخصوص وی نو بیا ذ مرګ آرزو خو وکړی

ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًۢا بِمَا

ذ مرګ | کہ چیرے تاسو یئ | رښتونی ؟ | او هیڅ کلہ بہ آرزو ونہ کړی دوی ذ دے | همیشہ | پہ سبب ذ هغہ څہ

کہ تاسو (پہ خپلہ دعویٰ کښے) رښتونی یئ . او (یاد ساتئ) دوی ذ خپلو هغو (بدو) عملونو پہ وجہ کوم چہ

قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ

چہ وړاندے لیږلی دی | ذ دوی لاسونو | او اللہ | ښہ پوهہ دے | پہ ظالمانو . | او خامخا بہ بیا مومے تہ دوی

ذ دوی ذ لاسہ شوی دی، هیڅ کلہ بہ ذ دے آرزو ونہ کړی او اللہ ظالمان خلق ډیر ښہ پیژنی . او تہ بہ دوی پہ ژوندون

أَحْرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٍ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ۚ

زیات لالچیان | ذ خلقو نہ | پہ ژوندون | او لہ هغو خلقو نہ | کوم چہ مشرکان دی

پسے ذ ټولو خلقو نہ زیات حرصناک بیا مومے تر دے چہ ذ مشرکانو نہ هم زیات حرصناک .

يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِۦ

غواړی هر یو لہ دوی نہ | چہ کاش عمر ورکړے شی دہ تہ | زر کالہ | او نہ دے خلاصونکے ذ دہ

پہ دوی کښے هر یو تن دا غواړی چہ کاش ذ دہ عمر زر کالہ شی خوشحال دا دے کہ چیرے دوی او ډیر عمر بیا مومی

منزل ١

ع ١١

مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ ۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾ قُلْ مَنْ كَانَ

دَ عذاب نه | چه (اوږد) عمرور کړ کښي | او الله | ګوري | کوم چه دوی کوي | ؤدايه | کوم چه وي

نو هم دَ عذاب نه نهٔ شي خلاصيدے او الله تعالیٰ دَ دوی کارونه ډير ښهٔ وينی ګوري۔ (اے نبی! ته) ووايه چه

عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلْبِكَ بِاِذْنِ اللّٰهِ

دُښمن | دَ جبرائيل | بيشکه چه هم هغهٔ | نازل کړے دَ (قران) | ستا په زړهٔ | په حکم دَ خدائے

هر څوک چه دَ جبرائيل دُښمن دے (وی دی) بيشکه هغهٔ دَ الله تعالیٰ په حکم سره ستا په زړهٔ دا کتاب نازل کړے دَ

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٩٧﴾

چه تصديق کوی | دَ هغه (کتابونو) | چه دَ هغے نه وړاندې وُو | او هدايت | او زيرے دے | مؤمنانو دَ پاره

چه دَ هغه کتابونو کوم چه دَ دې نه وړاندې وُو تصديق کوی او دَ ايمان والو دَ پاره هدايت او زيرے دے۔

مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ

څوک چه وی | دُښمن | دَ الله | او دَ هغهٔ دَ فرښتو | او دَ هغهٔ دَ رسولانو | او دَ جبرائيل | او ميکائيل

څوک چه دَ الله او دَ هغهٔ دَ فرښتو او دَ هغهٔ دَ رسولانو او دَ جبرائيل او ميکائيل دښمن وی

فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ اٰيٰتٍ

پس بيشکه الله | دښمن دے | دَ کافرانو۔ | او مونږ نازل کړی دی | ستا طرف ته | آيتونه

نو يقيناً الله تعالیٰ هم دَ داسے کافرانو دُښمن دے۔ او (اے پيغمبره!) مونږ په تا باندې څرګند حکمونه نازل

بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ ﴿٩٩﴾ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا

ښکاره | او نهٔ کوی انکار | دَ دے | مګر | بدکاران۔ | آيا هر کله چه | وُکړله دوی

کړی دی او دَ فاسقانو نه سوابل څوک دَ دے نه انکار نهٔ کوی۔ آيا (دا رښتيا نهٔ دی چه) کله هم دوی څهٔ

عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠٠﴾

څهٔ وعده | نو وُغورزوله هغه | يوے ډلے | له دوئ نه | بلکه | اکثر دَ دوئ نه | ايمان نهٔ لری

لوظ نامه وکړه نو هغه دَ دوی نه يوے نيمے ډلے شا ته وُغورزوله؟ بلکه اکثر دَ دوی نه ايمان نهٔ راوړی۔

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا

او هر کله چه | راغے دوئ ته | يو رسول | دَ الله دَ طرف نه | (چه) تصديق کوونکے دے | دَ هغه څه

او هر کله چه دوی ته دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه يو پيغمبر راغلو چه دَ هغه کتابونو کوم چه دَ وړاندې نه دَ دوی

مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۙۗ كِتٰبَ اللّٰهِ

چه دوی سره دے | نو وُغورزولو | يوے ډلے | دَ هغو خلقو نه | کوم ته چه ورکړے شوے وو کتاب | دَ الله کتاب

سره وُو تصديق کوی نو دَ دغے اهل کتابو نه يو ټولی دَ الله کتاب داسے شا ته وُغورزولو

وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠١﴾ وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا

وروستو | دَ شاګانو خپلو نه | لکه چه دوی | نهٔ پوهيږي۔ | او پيروی وُکړه دوی | دَ هغه څهٔ په لوستو

لکه چه دوی هيڅ دَ سره پيژندلو نهٔ۔ او دوی هغه (جادو) پسے روان شول کوم چه

الشَّيٰطِيۡنُ عَلٰى مُلۡكِ سُلَيۡمٰنَ ۚ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيۡنَ

شیطانانو | په بادشاهۍ د سلیمان کښې | او کفر نه وو کړے سلیمان | لیکن (هم) شیطانانو

په د سلیمان په بادشاهۍ کښې شیطانانو لوستلو او سلیمان هیڅ کله کفر نه وو اختیار کړے، کفر خو به شیطانانو کولو چه

كَفَرُوۡا يُعَلِّمُوۡنَ النَّاسَ السِّحۡرَ ۗ وَمَآ اُنۡزِلَ عَلَى الۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ

کفر کړے وو | ښودلو به دوی | خلقو ته | جادو | او هغه چه نازل شوے وو | په دوو فرښتو | په بابل کښې

(تاسو هم او ساده) خلقو ته به ئے جادو ښودلو او په هغه پسے روان شول چه په دوو فرښتو هاروت او ماروت

هَارُوۡتَ وَمَارُوۡتَ ؕ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنۡ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوۡلَاۤ اِنَّمَا نَحۡنُ

هاروت | او ماروت باندې | او دوی به نه ښودلو | هیڅ یو کس ته | ترڅو چه وئیل به دواړو | چه مونږ خو

باندې په بابل (ښار) کښې نازل شوے وو او هغوی دواړو به تر هغه هیچا ته تعلیم نه ورکولو چه اول به ئے ورته وئیل

فِتۡنَةٌ فَلَا تَكۡفُرۡ ؕ فَيَتَعَلَّمُوۡنَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُوۡنَ بِهٖ

ازمیښت (ذریعه) یو | پس مه کافر کیږئ | پس دوی به زده کولو | د دے دواړو نه | هغه (دم) چه جدائی به راوستله دوی په ذریعه

چه کوره مونږ ازمیښت (له دا خلقو) یو پس تاسو کافر کیږئ مه. (د دے باوجود) د دے خلقو به د دوی نه هغه خبرے زده کولے د

بَيۡنَ الۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهٖ ؕ وَمَا هُمۡ بِضَآرِّيۡنَ بِهٖ مِنۡ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذۡنِ

په مینځ د سړی | او د هغه د ښځے | او دوی نه وو | ضرر رسوونکی | په دے سره | هیڅ کس ته | بغیر | د حکم

کوم په ذریعه چه به ئے د خاوند او ښځے ترمینځه جدائی راوستله، او دوی د الله د حکم نه بغیر هیچا ته هم ضرر نه شو

اللّٰهِ ؕ وَيَتَعَلَّمُوۡنَ مَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنۡفَعُهُمۡ ؕ وَلَقَدۡ عَلِمُوۡا لَمَنِ

د الله نه | او دوی به زده کولو | هغه څه چه ضرر به ئے رسولو دوی ته | او فائده به ئے نه رسوله دوی ته | او بیشکه دوی پوهه وو | چه چا

رسولے او د خلقو هغه خبرے زده کړے چه په خپله دوی ته پاره مضر وے او دوی ته به ئے هیڅ فائده نه رسوله او یقیناً دوی ته معلومه وه

اشۡتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِى الۡاٰخِرَةِ مِنۡ خَلَاقٍ ۛ وَلَبِئۡسَ مَا

واخستو هغه (جادو) | نشته ئے هغه د پاره | په آخرت کښې | هیڅ حصه | او ډیر بد دے | هغه څیز

چه کوم خلقو دا (جادو) اختیار کړو د هغوی د پاره به په آخرت کښې هیڅ حصه نه وی. او یقیناً بد دے هغه څیز (یعنی

شَرَوۡا بِهٖۤ اَنۡفُسَهُمۡ ؕ لَوۡ كَانُوۡا يَعۡلَمُوۡنَ ۝١٠٢ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اٰمَنُوۡا

د کوم په بدل کښې چه خرڅ کړل دوی | خپل ځانونه | کاش! | چه دوی پوهیدے | او که چرے دوی | ایمان راوړے وے

کفر) د کوم په بدل کښې چه دوی خپل ځانونه خرڅ کړی دی کاش دوی ته علم وے. او که چرے دوی ایمان راوړے وے او ځان

١٢ ع ١٢ وَاتَّقَوۡا لَمَثُوۡبَةٌ مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ خَيۡرٌ ؕ لَوۡ كَانُوۡا يَعۡلَمُوۡنَ ۝١٠٣

او پرهیزګاري ئے کړے وے | نو ثواب | له طرفه د خدائے نه | ډیر غوره وو | کاش! | چه دوی پوهیدے.

ئے (د جادو نه) بچ ساتلے وے نو د خدائے د طرف نه ثواب ډیر غوره وو، کاش! که دوی پوهیدے.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقُوۡلُوۡا رَاعِنَا وَقُوۡلُوا انۡظُرۡنَا وَاسۡمَعُوۡا ؕ

اے مؤمنانو! | مه وایئ | "رَاعِنَا" | او وایئ | اُنۡظُرۡنَا | او ښه واورئ

اے مسلمانانو! تاسو هیڅ ورے "راعنا" لفظ مه وایئ او (د دے په ځائے) اُنۡظُرۡنَا وایئ او خبرے ته ښه غوږ نیسئ.

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٠٤﴾ مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

او کافرانو دپاره | عذاب دے | دردناک۔ | نه غواړي | هغه (خلق) | کوم چه کافران دي | د اهل کتابو نه

او کافرانو د پاره دردناک عذاب مقرر دے۔ نه د اهل کتابو نه هغه خلق کوم چه کفر اختیار کړو دا خبره خوښوی او نه

وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ

او نه مشرکان | چه نازل کړے شي | په تاسو باندې | څه ښه خبره | ستاسو د رب د طرف نه

مشرکان چه ستاسو د رب د طرف نه دِ په تاسو باندې څـه خیر نازل شي۔

وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿١٠٥﴾

او الله | خاص کوی | په خپل رحمت سره | چا لره چه وغواړي | او الله | خاوند د لوئے فضل دے۔

او خدائے خپل رحمتونه خاص هغه چا له ورکوی چه چاله ئے رضا شي او الله د لوئے فضل خاوند دے۔

مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ؕ

کوم چه منسوخ کړو مونږ | څه آیت | یا هغه هیر کړو | نو مونږ راوړو | د هغې نه ښه | یا په شان د هغې

مونږ چه کوم حکم (یا شریعت) منسوخ کړو، یا ئے (ستاد زړه نه) هیر کړو نو د هغې نه غوره یا د هغې په شان (بل حکم) راولیږو

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٠٦﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ

ایا ته نه پوهیږے | چه الله تعالیٰ | په هر څیز قادر دے۔ | ایا ته نه پوهیږے

ایا تا ته معلومه نه ده چه الله تعالیٰ په هر څیز باندې قدرت لري۔ ایا تا ته معلومه نه ده

اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

چه الله د پاره ده | بادشاهي | د اسمانونو | او د زمکے | او نشته | تاسو د پاره | سوا | د الله نه

چه د اسمانونو او د زمکے بادشاهت هم د الله د پاره دے۔ او د الله تعالیٰ نه سوا ستاسو نه څوک

مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٠٧﴾ اَمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَسْـَٔلُوْا رَسُوْلَكُمْ كَمَا

څوک دوست | او نه مددگار | ایا تاسو غواړئ | چه سوال وکړئ | د خپل رسول نه | لکه چه

دوست کیدے شي او نه څوک مددگار۔ (اے مسلمانانو) ایا ستاسو اراده ده چه تاسو هم د خپل رسول نه هغسے سوالونه

سُئِلَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ

سوال شوی وو د موسیٰ نه | له دے نه وړاندې | او څوک چه | بدل کړي | کفر | په ایمان

وکړئ څنګه چه د دے نه وړاندې موسیٰ نه شوی وو۔ او چا چه کفر په ایمان بدل کړو

فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

نو هغه گمراه شو | د نیغ لارے نه | غواړي | اکثر خلق | د اهل کتابو نه

نو بیشکه چه هغه سمه لار ورکه کړله اکثر اهل کتاب د خپل ذاتي حسد په وجه

لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا ۚۖ حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ

چه کاش راوګرځوی تاسو | ستاسو د ایمان راوړلو نه پس | کفر ته | د حسد په وجه | کوم چه د دوی په زړونو کښے دے

دا غواړي چه په څه شان تاسو د ایمان راوړلو نه پس بیا کفر طرف ته بیرته کړي

مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۚ فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ

پس له هغه نه | چه واضح شو | په دوی باندې | حق | پس معاف کړئ | او مخ واړوئ | تر هغه پورې چه | راوړي

د دې نه پس (هم) چه حق په دوی ظاهر شوې دے پس تاسو (دوی) معاف کړئ او مخ ترې واړوئ ترڅو چه

اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

الله | خپل حکم | بیشکه الله | په هر څیز باندې | قادر دے. | او ودروئ | مونځ

د الله حکم راشي. بیشکه چه الله تعالیٰ په هر څه پوره پوره قدرت لري او مونځونه کوئ

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ

او ورکوئ | زکوٰة | او هغه څه چه | وړاندې لیږئ | د خپلو ځانونو د پاره | د نیکئ نه | بیا به مومئ تاسو هغه

او زکوٰة ورکوئ او تاسو چه ځان له وړاندې هر څه نیکي ولیږئ نو هغه به الله سره (موجود) بیا مومئ

عِنْدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱۰﴾ وَقَالُوْا لَنْ يَّدْخُلَ

د الله سره | بیشکه | الله | هغه څه چه | تاسو ئې کوئ | ګوري ویني. | او دوی وویل | هیڅ کله به داخل نه شي

بیشکه چه الله ستاسو کارونهویني ګوري. او (اهل کتاب) وائي چه هیڅ کله به

الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ ؕ قُلْ هَاتُوْا

جنت ته | سوا د هغه نه چه وي | یهودي یا نصراني | دا د دوی باطله ارزوګانې دي | ته ووایه | راوړئ

یهود یا نصاراؤ نه سوا بل څوک جنت کښې نه داخلیږي. دا صرف د دوی ارزوګانې دي ته ووایه چه

بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ بَلٰى ۚ مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ

خپل دلیل | که چرې یئ تاسو | رښتوني ؟ | (نه) بلکه | چاچه تیټ کړو | خپل مخ | الله ته

که چرې تاسو رښتوني یئ نو (د دې خبرې) دلیل پیش کړئ ؟ هو ! څوک چه خپل ځان الله تعالیٰ ته وسپاري

وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗۤ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۪ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

او هغه نیکي کوونکے وي | نو د هغه د پاره | اجر د هغه دے | د هغه د رب سره | او نه به وي څه ویره | په هغوی

او نیک کارونه وکړي نو د هغه جزا د خپل رب سره مقرر ده او په داسې خلقو به نه هیڅ قسم ویره

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۪ ع ۱۳

او نه به هغوی | غمژن وي | او وائي | یهود چه | نه دي نصارئ (عیسایان) | په څه لاره

راځي او نه هیڅ قسم خفګان. او یهودیان وائي چه د نصاراؤ دین هیڅ دین نه دے

وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّهُمْ يَتْلُوْنَ

او وائي | نصارئ | نه دي | یهود | په څه لاره | او هغوی (ټول) لولي

او نصارئ وائي چه د یهودو مذهب هیڅ مذهب نه دے، حال دا دے چه هغوی دواړه اسماني

الْكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ

کتاب | دغه شان | وائي | هغه خلق | چه علم نه لري | په شان د خبرې د هغوی | پس الله به فیصله وکړي

کتابونه لولي. دغه شان خبره هغه خلق هم کوي کوم چه نه پوهیږي (یعنې مشرکان) نو د قیامت په ورځ به

بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ

دَ دوی په مینځ کښې | په ورځ دَ قیامت | په کومه خبره کښې | چه هغوی اختلاف کولو | او څوک دے | زیات ظالم

الله تعالیٰ دَ دوی دَ اختلافاتو په حقله په خپله فیصله کوی ۔ او دَ هغه چانه لوئے ظالم بل

مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى

دَ هغه نه | چه منع کړی | دَ الله دَ جماتونو نه | چه ذکر کړے شی په هغې کښې | دَ هغه نوم | او کوشش وُکړی

څوک کیدے شی چه جماتونه دَ دے خبرے نه بندوی چه په هغې کښې دَ الله نوم واخستے شی او دَ هغې دَ

فِيْ خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِيْنَ ۬ؕ

دَ هغې په وُرانولو کښې | دَ داسے خلقو حق نه دے | چه داخل شی هغې (جماتونو) کښې | مګر ویریدونکی

شاړولو کوشش کوی، هغه خلقو دَ پاره خو مناسب دا وو چه دے جماتونو ته په ویره ویره ورتلے (یا داتلے)

لَهُمْ فِى الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ

دَ هغوی دَ پاره | په دُنیا کښې | رسوائی ده | او هم هغوی دَ پاره دے | په آخرت کښې | عذاب

هغوی دَ پاره په دنیا کښې خواری او رسوائی ده او په آخرت کښې ډیر لوئے عذاب مقرر

عَظِيْمٌ ﴿١١٤﴾ وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۗ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ

ډیر لوئے | او هم دَ الله دے | مشرق | او مغرب | پس هر طرف ته | چه مخ کړئ | هم هغه ځائے کښې دے

دے۔ او مشرق دے که مغرب ټول ارخونه دَ الله دی نو چه کوم ارخ ته مخ وُګرځوئ هغه ارخ ته

وَجْهُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿١١٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ

مخ دَ الله | بیشکه الله | خاوند دَ فراخئ | او دانا دے | او هغوی وائی | جوړ کړے دے الله | ځوئے

خدائے شته۔ الله دَ وسعتونو خاوند دے او ښه پوهه دے۔ او یهود او نصارٰی وائی چه خدائے پاک ځوئے لری

سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ لَّهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ

هغه خو پاک دے | بلکه | دَ هغه دی | کوم چه | په آسمانونو | او زمکه کښې دی | ټول | دَ هغه

(حال دا چه) هغه (دَ داسے خبرو نه) پاک دے بلکه څه چه په آسمانونو او زمکه کښې دی هم دَ هغه دی ټول دَ هغه

قٰنِتُوْنَ ﴿١١٦﴾ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا

فرمانبرداردی | پیدا کوونکے | دَ آسمانونو | او زمکے دے | او هرکله چه هغه اراده وُکړی | دَ یو کار

حکم منونکی دی، الله دَ آسمانونو او دَ زمکے پیدا کوونکے دے او هغه چه دَ یو کار فیصله وُکړی

فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿١١٧﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ

نو بیشکه چه وائی | هغه ته | چه شه | نو هغه شی | او وائی | هغه (خلق) | کوم چه نه پوهیږی

نو وائی چه "شه" نو هغه کار (فورًا) وُشی او نا پوهه خلق وائی چه الله تعالیٰ مونږ سره په

لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ

ولے خبرے نه کوی مونږ سره الله | یا ولے نه راځی مونږ ته | (څه) نخښه | دغه شان | وئیلی وُو

خپله ولے خبرے نه کوی یا ولے مونږ ته (دَ ستا دَ صداقت) نخښے نه رالیږی؟ دغسے دَ هغوی نه وړاندې

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ؕ تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ قَدْ

هغه خلقو | چه د دوی نه وړاندې وو | په شان د دوی د وینا | یو شان دی | د هغوی زړونه ـ | بیشکه

خلقو هم د دوی په شان خبرې کړې وې، (د دوی او د هغوی زړونه (په کفر کښې) یو رنګ شوی دی. مونږ

بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿١١٨﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ

بیان کړی دی مونږه | نخښې | د پاره د هغه قوم | چه یقین کوی | بیشکه مونږ رالیږلی یې ته | په رښتینی دین سره

یقین لرونکو ته نخښې نیهانې په ښه شان ښکاره کړی دی. (اے نبی!) بیشکه مونږ ته په رښتینی دین سره

بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۙ وَّلَا تُسْئَلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿١١٩﴾

زیرے ورکوونکے | او ویروونکے | او پوښتنه به نه شی کولے تا نه | د دوزخیانو په حقله

زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے جوړ کړے لیږلے یې او تا نه به د دوزخیانو په حقله هیڅ پوښتنه نه شی کیدے.

وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ

او هیڅ کله به راضی نه شی | له تا نه | یهودیان | او نه | نصاریٰ | تر دې چه | ته پیروی ونه کړې

او یهود او نصاریٰ تا نه هیڅ کله نه رضا کیږی ترڅو چه ته د دوی په مذهب

مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ

د هغوی د دین | ووایه | بیشکه چه هدایت | هم د الله | اصل هدایت دے | او که چرے پیروی وکړه تا

روان نه شې، ته ورته ووایه چه الله ماته کومه لار ښوولې ده هم هغه سمه لار ده او که د دې کامل علم

اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ الَّذِيْ جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ

د هغوی د آرزوګانو | پس د هغه نه | چه راغلے دے تاته | علم | نو نه به وی تا د پاره

نه پس هم ته د دوی په خواهشاتو پسے روان شوے، نو د خدائے نه د بچ ساتلو د

مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٢٠﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ وقف منزل

الله سره | څوک دوست | او نه څوک مددګار | هغه خلق (چا ته چه) | ورکړی دی مونږ | کتاب | چه هغوی ئې تلاوت کوی

پاره به هیڅوک ستا دوست یا مددګار پیدا نه شی. چا ته چه مونږ کتاب (تورات) ورکړے دے، هغوی داسے

حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ

په حق | تلاوت د هغې سره | هم هغه خلق | ایمان راوړی | په هغې باندې | او څوک چه | د هغې نه انکار کوی

لول لکه څنګه چه د هغې د لوستلو حق دے. هغوی په دې کتاب (قرآن) هم ایمان راوړی او څوک چه د دې نه انکار کوی

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٢١﴾ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ ع ١٤ ٩ ١٤

پس هغه خلق دی | زیان کاران | اے بنی اسرائیلو! | یاد کړئ | زما نعمتونه | هغه چه

هغوی یوانے خپل تاوان کوی. اے د یعقوب (علیه السلام) اولاده! زما هغه نعمتونه را یاد کړئ کوم چه ما

اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَاتَّقُوْا

کړی وو ما | په تاسو باندې | او دا چه فضیلت درکړے وو ما تاسو ته | په جهانونو باندې | او وویریږئ

په تاسو کړی وو، او دا چه ما تاسو له په ټول جهان والو باندې فضیلت درکړو او د هغه ورځې

يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ

دَ هغه ورځې | چه به کار به رانهٔ شي | يو کس دَ بل کس | په هيڅ څيز کښې | او قبول به نهٔ شي | دَ هغه نه | څهٔ بدل

نهٔ وېرېږئ چه يو بنده به دَ بل بنده هيڅ په کار نهٔ راشي. او نهٔ به دَ هغه نه څهٔ بدله قبلولے شي

وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ

او نفع به ورنهٔ کړي هغهٔ ته | سفارش | او نهٔ به دَ هغوی مدد وکړے شي. | او هرکله چه وُ آزمائيلو | ابراهيم

او نهٔ به هغهٔ ته سفارش فائده رسولے شي او نهٔ به دَ هغوی هيڅ قسم امداد کيدے شي. او (ياد کړه) هرکله چه دَ ابراهيم

رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّيْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ

رب خپل | په څو خبرو سره | پس پوره کړے دے هغه | نو وے فرمائيل | بيشکه زهٔ | به جوړ کړم تا | دَ ټولو خلقو

خدائے په يو څو خبرو کښے دَ هغهٔ ازمېښت وکړو نو هغهٔ پوره حکم پوره کړل. نو الله وُ فرمائيل چه زهٔ تا دَ ټولو خلقو امام

اِمَامًا ؕ قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ؕ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٢٤﴾

پيشوا | دَ ئے وئيل | او زما دَ اولاد نه (هم)؟ | وے فرمائيل | نهٔ به رسي | زما وعده | ظالمانو ته.

جوړومه يم (ابراهيم) وُ وئيل او زما اولاد هم؟ (الله) وُ فرمائيل (بنده خو) ظالمان زما په عهد کښے داخل نهٔ دي.

وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ وَاتَّخِذُوْا

او هرکله چه جوړ کړله موږ | کعبه | ځائے دَ عبادت | دَ خلقو دَ پاره | او (د) امن (ځائے) | چه جوړ کړه

او (ياد کړه) هرکله چه موږ خانه کعبه خلقو دَ پاره دَ عبادت مرکز او دَ امن ځائے جوړ کړو او (حکم مو ورکړو) چه

مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ وَعَهِدْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ

مقام دَ ابراهيم | دَ مونځ ځائے | او موږ حکم ورکړو | ابراهيم ته | او اسماعيل ته

مقام ابراهيم دَ مونځ ځائے جوړ کړه او موږ ابراهيم او اسماعيل ته عهد واخستو چه تاسو زما کور دَ

اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿١٢٥﴾

چه تاسو پاک ساتئ | زما کور | دَ پاره دَ طواف کوونکو | او دَ اعتکاف کوونکو | او دَ رکوع او سجده کوونکو

طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع او سجده کوونکو دَ پاره پاک او صفا ساتئ.

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّارْزُقْ

او هرکله چه وُ وئيل | ابراهيم | اے زما ربه! | جوړ کړه | دا ښار | امن والا | او روزي ورکړه

هرکله چه ابراهيم وُ وئيل اے زما ربه! دا ښار دَ امن ځائے وُ ګرځوه او په دے کښے دَ اوسيدونکو

اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

دَ دے اوسيدونکو ته | دَ ميوو نه | څوک چه | ايمان راوړي | دَ هغوی نه | په الله | او په ورځ

نه کوم چه په الله او په ورځ دَ آخرت ايمان راوړي هغوی ته دَ خوراک دَ پاره ميوے

الْاٰخِرِ ؕ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا ثُمَّ اَضْطَرُّهٗٓ

دَ آخرت | دے فرمائيل | او کوم چه انکار وکړي | نو فائده به ورکړم هغهٔ ته | لږه | بيا به | وُ شړم هغه په ذلت سره

ورکړه. (الله) وُ فرمائيل او څوک چه کافر شي هغهٔ له به هم څهٔ موده فائده ورکړم. بيا به هغه دَ جهنم

اِلٰى عَذَابِ النَّارِ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٢٦﴾ وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ

د دوزخ عذاب ته | او هغه بد | ځاۓ دے | او هر کله چه اوچتول | ابراهيم | بنيادونه

عذاب ته ورسوم او هغه د استوګنې ډير خراب ځاۓ دے. او ياد کړه هر کله چه ابراهيم او اسماعيل عليهم السلام

مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ

د کعبے | او اسماعيل | اے زمونږ ربه! | قبول کړه | له مونږه نه | بيشکه هم ته يې | لوۓ اوريدونکے

د بيت الله د ديوالونو بنيادونه وچتول. (او دعا ئے غوښتله چه) اے زمونږ ربه! خمونږ دا خدمت قبول کړه بيشکه ستا

الْعَلِيْمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ

دانا. | اے زمونږه ربه! | او وګرځوه مونږ | فرمانبردار | ستا | او زمونږ د اولادنه (هم)

اوريدونکے او پوهه يې. اے زمونږ ربه! مونږ دواړه خپل تابعدار او فرمانبردار وګرځوه او زمونږ په اولاد کښے هم يو توله

اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ۪ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ

يوه ډله | فرمانبرداره | ستا | او وښايه مونږ ته | زمونږ د حج طريقے | او توبه قبوله کړه زمونږ | بيشکه هم ته يې

خپل فرمانبردار کړه او مونږ ته زمونږ د عبادت طريقے وښايه او زمونږ توبه قبوله کړه بيشکه ته توبه

التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا

توبه قبلونکے | مهربان | اے زمونږ ربه! | او راولېږه | په دوی کښے | يو رسول | له دوی نه | چه تلاوت کوي

قبلونکے او رحم کونکے يې. اے زمونږه ربه! په دوی کښے له دوی نه يو رسول راولېږه چه دوی ته ستا

عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ

دوی ته | ستا آيتونه | او زده کوي دوی ته | کتاب | او دانائي | او پاک کړي دوی | بيشکه هم ته يې

حکمونه اوروي او د کتاب (قرآن مجيد) او د هوښيارتيا تعليم ورکوي او د ګناهونو نه ئے پاکوي بيشکه ته غالب

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٢٩﴾ وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ع ١٥ ٨ ١٥

غالب | د حکمت خاوند | او څوک دے | چه مخ واړوي | ملت د ابراهيم نه | سوا د هغه نه | چه احمق کړي خپل ځان

او حکمت خاوند يې. او د ملت ابراهيمي نه څوک مخ اړوے شي سوا د هغه چا نه چه خپل ځان ئے کم عقل

وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِى الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٣٠﴾

او بيشکه | مونږ غوره کړے وو هغه | په دنيا کښے | او بيشکه هغه | په آخرت کښے (هم) | به له صالحانو نه وي.

کړے وي او مونږ (ابراهيم) په دنيا کښے (هم) غوره کړے وو او په آخرت کښے به هم د نيکانو د ډلې نه شمير وي.

اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗۤ اَسْلِمْ ۙ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٣١﴾

هر کله چه ووئيل | هغه ته | د هغه رب | فرمانبردار شه | نو وئے وئيل | زه فرمانبردار يم | د جهان د پروردګار

ياد کړه کله چه (ابراهيم ته) د هغه رب ووئيل چه (زما حکم ته) غاړه کيږده هغه ووئيل چه ما د ټول جهان رب ته غاړه ايښے ده.

وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ ؕ يٰبَنِىَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى

او وصيت وکړو | د دې خبرے | ابراهيم | خپلو ځامنو ته | او يعقوب هم | (چه) اے زما ځامنو! | بيشکه الله | غوره کړو

او بيا د دې خبرے وصيت ابراهيم او (د هغه نمسي) يعقوب خپل اولاد ته هم کړے وو چه اے ځامنو! بيشکه الله تاسو د پاره

لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٣٢﴾

تاسو دَپاره | دا دين | پس تاسو مۀ مرئ | مگر (په دغه حال کښې چه) تاسو | مسلمانان يئ ـ

دين (د اسلام) غوره کړے دے پس تاسو تر مرگه پورے مسلمانان وُسيږئ ـ

اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ

آيا وئ تاسو حاضر | کله چه حاضر شو | يعقوب ته | مرگ ـ | کله چه ووئيل هغه | خپلو ځامنو ته

بيا آيا تاسو هغه وخت موجود وئ کله چه د يعقوب اخرى وخت راغے (او) کله چه هغۀ د خپلو ځامنو نه

مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ بَعْدِيْ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ

چه د چا عبادت به کوئ ؟ | زما نه پس | هغوى ووئيل | مونږ به عبادت کوو | د معبود ستا

تپوس وُکړو چه زما نه پس به تاسو د چا عبادت کوئ؟ هغوى ووئيل چه مونږ به هم د هغه يو خدائے عبادت کوو

وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا

او د معبود د پلارنيکۀ ستا | (چه) ابراهيم | او اسماعيل | او اسحاق (دے) | چه معبود دے | يو ـ

د کوم عبادت چه ستا او ستا بزرگانو ابراهيم او اسماعيل او اسحاق (عليهم السلام) کولو ـ

وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿١٣٣﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا

او مونږ | هم د هغۀ | فرمانبردار يُو | دا يوه ډله وه | چه تيره شوے ده | هغوى د پاره دى | کوم چه

او مونږ هم د هغه الله فرمانبردار يُو ـ دا يو اُمّت دَو چه تير شو د هغوى عملونه به

كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٤﴾

وُکړل هغوى | او تاسو د پاره دى | کوم چه تاسو وُکړل | او له تاسو نه به تپوس نۀ شى کولے | د هغه څۀ | چه کول به هغوى ـ

د هغوى په کار راځى او ستاسو عملونه به ستاسو په کار راځى او تاسو نه به د هغوى د عملونو په حقله تپوس نۀ کيږى ـ

وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى تَهْتَدُوْا قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهٖمَ

او هغوى وائى | چه شئ تاسو | يهود يا نصارىٰ | (چه) تاسو لاره بيامومئ | ووايه (ته) | بلکه | (مونږ خوښه) په ملت د ابراهيم (يو)

او هغوى وائى چه يهوديان يا نصارىٰ شئ چه سمه لاره بيامومئ ـ ته ووايه چه ملت د ابراهيم (په پيروئ کښے دے)

حَنِيْفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٣٥﴾ قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ

چه د يو خدائے منونکے وو | او نۀ وو | له مشرکانو نه | وايئ تاسو | ايمان راوړے دے مونږ په الله | او په هغه څۀ

کوم چه د يو الله بنده وو او (ستاسو په شان) مشرک نه دَو ـ ووايه چه مونږ الله باندې ايمان لرو او په هغه کتاب

اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

چه نازل شول په مونږ | او څۀ چه نازل شول | ابراهيم | او اسماعيل | او اسحق | او يعقوب

چه مونږ ته رالېږلے شوے دے او په هغه (کتابونو) هم چه حضرت ابراهيم، اسماعيل، اسحاق او يعقوب عليهم السلام ته او د دوى

وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ

او (د هغه) اولاد ته | او څۀ چه ورکړے شوى وو | موسىٰ او عيسىٰ ته | او څۀ چه ورکړے شوى وُو | نورو نبيانو ته | د هغوى د رب د طرف نه

اولاد ته رالېږلى شوى دى او په هغه کتابونو باندې کوم چه موسىٰ، عيسىٰ او تولو پېغمبرانو عليهم السلام ته د خپل رب د طرف نه ورکړے شوى وو

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿١٣٦﴾ فَاِنْ اٰمَنُوْا

موږ فرق نه کوو | په مینځ د هیچا کښې | له هغوی نه | او موږ خو | هم د هغه | فرمانبردار یو | پس که چېرې ایمان راوړي هغوی

موږ په دوی کښې د چا په مینځ کښې هیڅ فرق نه کوو او موږ خو هم د هغه فرمانبردار یو. پس که چېرې داخل هغه

بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ

شانګه چه | تاسو ایمان راوړې دے | په دے (کتاب) | نو هغوی هم لار بیا مونده | او که چېرې هغوی مخ واړو | نو پس بېشکه هغوی

ایمان راوړي شانګه چه تاسو خلقو په دې کتاب ایمان راوړې دے نو یقیناً هغوی هدایت بیا مونده او که هغوی شا کړه نو بیا د هغوی

فِیْ شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣٧﴾

په مخالفت کښې دي | پس کافي دے تا د پاره الله د هغوی په مقابله کښې | او هغه دے | آورېدونکے | ډېر ښه پوهه.

بے ځایه ضد دے، اے پیغمبره د دوی د شرنه د بچ ساتلو د پاره تا له الله کافي دے او هغه آورېدونکے او پوهه دے.

صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿١٣٨﴾

د الله رنګ! | او څوک | غوره دے | د الله نه | په رنګ ورکولو کښې | او موږ خو د هغه | عبادت کوو.

موږ د الله رنګ قبول کړې دے او د الله د رنګ نه غوره د چا رنګ کېدے شي او موږ خو یواځې د الله عبادت کوونکي یو.

قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِی اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا

ووایه | ایا تاسو جګړه کوئ موږ سره | د الله په نسبت | او هغه زموږ رب دے | او رب ستاسو | او موږ د پاره | زموږ عملونه دي

ووایه چه ایا تاسو موږ سره د الله په باره کښې جګړې کوئ حال دا دے چه هم هغه زموږ رب دے او ستاسو (هم) او موږ د پاره زموږ عملونه

وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ اِنَّ اِبْرٰهٖمَ

او تاسو د پاره | ستاسو عملونه | او موږ | هم د هغه په اخلاص سره عبادت کوو. | یا تاسو وایئ | چه بېشکه ابراهیم

دي او تاسو د پاره ستاسو عملونه او موږ هم د هغه مخلص (بندګان) یو. ایا تاسو دا وایئ چه ابراهیم،

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطَ كَانُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰی ۗ قُلْ

او اسماعیل | او اسحاق | او یعقوب (علیهم السلام) | او (د هغه) اولاد ؤو | یهودیان یا عیسایان | ووایه

اسماعیل، اسحاق، یعقوب علیهم السلام او د هغه اولاد یهودیان یا عیسایان وو درته ووایه

ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ۗ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهٗ

ایا تاسو | زیات پوهیږئ | یا الله | او څوک زیات ظالم دے | د هغه نه | چه پټه کړي | ګواهي | چه هغه سره وي

چه تاسو ښه خبر یئ او که الله. او د هغه چانه لوئے ظالم به څوک وي؟ چه د خدائے شهادت ورسره پروت وي او هغه

مِنَ اللّٰهِ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا

د الله د طرفه | او نه دے الله | بے خبره | د هغه څه نه چه تاسو کوئ | هغه یو ټولے وو | چه تېر شو | د هغوی د پاره دي

ئے پټوي او خدائے ستاسو د کارونو نه ناخبره نه دے هغه یو ټولے وو چه تېر شو د هغوی عملونه به

مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْــَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤١﴾ ع ١٦ ١٢ ١٦

د هغوی عملونه | او تاسو د پاره دي | ستاسو عملونه | او پوښتنه به نه کېږي له تاسو | د هغه څه | چه هغوی به کول.

د هغوی په کار راځي او ستاسو عملونه ستاسو کار راځي او تاسو نه به د هغوی د عملونو په حقله هیڅ تپوس نه کېږي.

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ډاکټر محمد دین

سَیَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِیْ

چه | بې عقله | له خلقو نه | چه کوم شي ګرځول دي | له هغې قبلې ددوی نه | زر ده چه وبه وائي

زر ده چه وبه وائي بې وقوفه خلق ضرور وائي چه مسلمانان کوم شي د خپلې هغې قبلې (بیت المقدس) نه وګرځول چه

كَانُوْا عَلَیْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَ الْمَغْرِبُ ؕ یَهْدِیْ مَنْ

دوی وو په هغې باندې | ووایه | الله د پاره دی | مشرق | او مغرب | لاره ښائي | هغه چا ته

تر اوسه پورې و ته مخ کولو (اے پیغمبره!) ووایه چه مشرق او مغرب ټول یوازې د خدائے دي او چه د چا په حقله

یَّشَآءُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۱۴۲﴾ وَ كَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً

چه وغواړي | نیغې لارې طرف ته | او هم دغه شان | مونږ جوړ کړئ تاسو | یو امت

ئې رضا شي نو هغه په سمه لاره روان کړي - او دغه شان (اے مسلمانانو!) مونږ تاسو یو غوره توله

وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَی النَّاسِ وَ یَكُوْنَ الرَّسُوْلُ

معتدل | د پاره د دې چه تاسو شئ | ګواهان | په خلقو باندې | او شي | رسول

وګرځولئ چه تاسو په نورو خلقو باندې ګواهان شئ او (د الله) رسول په تاسو باندې

عَلَیْكُمْ شَهِیْدًا ؕ وَ مَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِیْ كُنْتَ عَلَیْهَا

په تاسو باندې | ګواه | او نه وه مقرر کړې مونږه | قبله | هغه چه | ته وې په هغې باندې

ګواه شي او مونږ هغه قبله چه تا به ورته (په مکه کښې) مونځ کولو په دې غرض بیا

اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ یَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ یَّنْقَلِبُ

مګر | د پاره د دې چه مونږ معلوم کړو هغه څوک | چه پیروي کوي | د رسول | له هغه کس نه | چه بیرته راګرځي

مقرر کړه چه معلوم کړو چه څوک د پیغمبر پیروي کوي او څوک په اڼدولو ګونډو بیرته

عَلٰی عَقِبَیْهِ ؕ وَ اِنْ كَانَتْ لَكَبِیْرَةً اِلَّا عَلَی الَّذِیْنَ هَدَی

په خپلو دواړو ګونډو | او بیشکه دا خبره ذړنه ده | مګر | په هغو خلقو نه | چا ته چه هدایت وکړو

ګرځي او یقینًا دا خبره (ډیره) ګرانه وه مګر هغه خلقو د پاره (هیڅ ګرانه) نه ده چا ته چه

اللّٰهُ ؕ وَ مَا كَانَ اللّٰهُ لِیُضِیْعَ اِیْمَانَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ

الله | او الله نه ضائع کوي | ایمان ستاسو | بیشکه الله | په خلقو

الله هدایت کړے وی او (یاد ساتئ) الله دا سے نه دے چه ستاسو ایمان (او عملونه) ضائع کړي بیشکه الله په خلقو

لَرَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۴۳﴾ قَدْ نَرٰی تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِی السَّمَآءِ

خاوند مهربان | بخښونکے دے | بیشکه | مونږ وینو | ګرځیدل | د مخ ستا | د آسمان طرف ته

باندې ډیر مهربانه رحم کوونکے دے - (اے پیغمبره!) مونږ وینو چه ته بیا بیا آسمان طرف ته ګورے نو مونږ

فَلَنُوَلِّیَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ

پس ضرور به وګرځوو مونږ تا | هغه قبلې ته | کومه چه ستا خوښه ده | پس وګرځوه | مخ خپل | په طرف

به تا ضرور هغه قبلې ته وګرځوو چه کومه ستا خوښه ده نو خپل مخ د مسجد حرام (کعبې) په

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

ذَ مسجد حرام | او هر ځائے کښے چه | يئي تاسو | پس وګرځوئ | مخونه خپل | ذَ هغې طرف ته

لور ته وګرځوه ۔ او (اے مسلمانانو!) هر ځائے کښے چه تاسو يئي نو ذَ مسجد حرام (کعبې) طرف ته مخ کوئ

وَإِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ

او بيشکه | هغه خلق | کوم ته چه ورکړے شو | کتاب (تورات) | يقيناً پوهيږي | چه بيشکه دا حق دے | ذَ دوی ذَ رب ذَ طرف نه

او کوم خلقو ته چه کتاب ورکړے شوے هغوی په ډيربښه پوهيږي چه (ذَ قبلے بدليدل) ذَ هغوی ذَ رب ذَ طرف نه

وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾ وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ

او نه دے الله | بے خبره | له هغه څه نه چه دوی ئې کوي | او که چرې | راوړے ته | هغوی ته

بالکل برحق دی او الله ذَ هغه څه نه بے خبره نه دے کوم چه دوی کوي ۔ او که چرې ته هغه خلقو ته چاته چه کتاب

أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَا أَنتَ بِتَابِعٍ

چاته چه ورکړے شو | کتاب | هر قسم دليل | نو (هم) به هغوی نه مني | قبله ستا | او نه ته پيروي کوونکے يئے

ورکړے شوے دے ټول دليلونه راوړے نو هم به هغوی ستا قبله ونه مني او نه ته ذَ هغوی قبله

قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ

ذَ قبلے ذَ هغوی | او نه دي ځينے له هغوی نه | پيروي کوونکي | ذَ قبلے ذَ ځينو نورو | او که چرې | پيروي وکړه تا

قبلولے شے او هغوی په خپل مينځ کښے هم ذَ يو بل ذَ قبلے منلو ته تيار نه دي او که چرې ته ذَ دے

أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا

ذَ هغوی ذَ خواهشاتو | ذَ دے نه پس چه | راغلے تا ته | علم | نو بيشکه ته هم | دغه وخت

واضح علم راتلو نه پس هم ذَ دوی په خواهشاتو پسے لاړے نو به ظالمانو کښے

لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٥﴾ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا

(به) ذَ ظالمانو نه (شے) | هغه خلق | چاته چه ورکړے دے مونږ | کتاب | هغوی دا (رسول) پيژني | لکه چه

به شمير شے ۔ چاته چه مونږ کتاب ورکړے دے هغوی دا (نبي) داسے پيژني لکه څنګه

يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ

هغوی پيژني | خپل ځامن | او بيشکه | څه خلق | ذَ هغوی نه | ضرور پټوي | حقه خبره | او هغوی

چه هغوی خپل ځامن پيژني او بيا هم په دوی کښے يو ټولے سره ذَ علم حق

يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾ وَلِكُلٍّ

پوهيږي | دا حق دے | ستا ذَ رب ذَ طرف نه | پس مه کيږه ته | ذَ شک کوونکو نه | او ذَ هر يو ذَپاره

پټوي دا (ذَ قبلے بدليدل) ذَ الله ذَ طرف نه حقه خبره ده نو هيڅ قسم له شک شبهه په کښے مه کوه ۔ او هر چا

وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ۖ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ

يو طرف (مقام) دے | چه هغه مخ کوونکے دے هغه ته | پس وړاندے ځئ | په نيکيو کښے | هر ځائے کښے چه يئي تاسو | را به ولي

ذَ پاره يو طرف دے کوم ته چه هغه متوجه کيږي پس تاسو ذَ نيکئ په کارونو کښے ذَ يو بل نه وړاندے شئ هر ځائے کښے چه تاسو يئي

وقف لازم

وقف النبي

بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١٤٨ وَمِنْ حَيْثُ

تاسو | الله | قول | بیشکه | الله | په هر څیز باندی | قادر دے | او د کوم ځائے نه چه

الله به مو بیا یو ځائے کړی بیشکه الله په هر کار قدرت لری۔ او د کوم ځائے نه چه ته

خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۭ وَاِنَّهٗ

ته ووځے | پس واړوه | مخ خپل | په طرف | د مسجد حرام | او بیشکه دا

(په سفر) وتلے یې، د هغه ځائے نه مسجد حرام طرف ته (په مونځ کښې) مخ کړه حکم چه دا ستا د

لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ۭ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝١٤٩ وَمِنْ حَيْثُ

ضرور حق دے | له طرفه د رب ستا | او نه دے الله | بے خبره | د هغه څه نه چه تاسو ئې کوی | او کوم ځائے نه چه

پاک رب له طرفه برحقه فیصله ده او خدائے پاک ستاسو د عملونو نه بے خبره نه دے۔ او (اے نبی!) هر ځائے

خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۭ وَحَيْثُ مَا

ته ووځے | نو اړوه | خپل مخ | طرف | د مسجد حرام ته | او هر ځائے کښے چه

ته چه ته لاړ شے د هغه ځائے نه (په مونځ کښې) مسجد حرام طرف ته مخ کړه۔ او (اے مسلمانانو!) په هر ځائے

كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ

یئې تاسو | نو واړوئ | مخونه خپل | د هغے طرف ته | د پاره د دے چه نه وی | خلقو د پاره | په تاسو

کښې چه تاسو یئې نو هغے طرف ته برابر مخ کوئ (د قبلے د بدلولو حکم حکمت د رکولے شی) چه په تاسو باندې سوا د هغو خلقو

حُجَّةٌ ڎ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ ۤ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِيْ ۤ

(څه) الزام | سوا | د هغو خلقو نه | چه ظالمان دی | له دوئی نه | پس مه ویریږئ د هغوی نه | او ویریږئ له ما نه

نه کوم چه په دوی کښے بے انصافه دی د چا څه اعتراض پاتے نه شی پس تاسو د دوئی نه هیڅ کله مه ویریږئ او صرف ما نه

وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝١٥٠ كَمَآ اَرْسَلْنَا

او چه زه پوره کړم | خپل نعمت | په تاسو | او د پاره د دے چه تاسو | لاره بیا مومئ | لکه څنګه چه | مونږ رالیږلو

ویریږئ او د پاره د دے چه زه په تاسو باندې خپل نعمتونه پوره کړم او د دے د پاره چه تاسو هدایت بیا مومئ۔ (دا د قبلے بدلول

فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ

په تاسو کښے | یو رسول | هم له تاسو نه | چه تلاوت کوی | په تاسو | زمونږ ایتونه | او پاکوی تاسو

هم یو داسے نعمت دے) څنګه چه هغه رسول کوم چه مونږ هم تاسو نه ستاسو طرف ته لیږلے دے چه تاسو ته زمونږ حکمونه اوروی تاسو

وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا

او زده کوی تاسو ته | کتاب | او حکمت | او زده کوی تاسو ته | هغه څه چه تاسو نه

پاکوی او قرآن او حکمت درته ښائی، او د داسے خبرو تعلیم درکوی چه تاسو نه معلوے

تَعْلَمُوْنَ ۝١٥١ فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ۝١٥٢

پوهیدئ۔ | پس یاد کړئ ما | چه یاد کړم زه تاسو | او شکر کوئ زما | او ناشکری مه کوئ زما۔

هم نه وے نو تاسو ما یادوئ زه به تاسو یاد لرم او زما شکر ادا کوئ او ناشکری مه کوئ۔

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱسْتَعِينُوا بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ

اے | ای ایمان خاوندانو! | تاسو مدد اخلئ | په صبر | او مونځ سره | بیشکه | الله د

اے مؤمنانو! (په هره سختئ کښې) په صبر او مونځ سره مدد حاصلوئ بیشکه الله د صابرانو

مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ وَلَا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ

سره د صبر کوونکو | او مه وایئ | هغو ته | چه شهیدان شي | د الله په لاره کښې | مړه

خلقو ملګرے دے. او هغو خلقو ته چه د الله په لاره کښې ووژلے شي مړه مه وایئ.

بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلْخَوْفِ

بلکه هغوی ژوندي دي | لیکن | تاسو نه پوهیږئ | او مونږ به ضرور ازمایو تاسو | په څه څيز | له ویرې نه

هغوی (په حقیقت کښې) ژوندي دي خو تاسو پرې نه پوهیږئ او مونږ به ضرور په ویره او

وَٱلْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِ ۗ وَبَشِّرِ

او له لوږې نه | او له نقصان د مالونو نه | او د ځانونو نه | او د میوو نه | او زیرے ورکړه

په لوږه کښې او د مالونو او د ځانونو او د میوو په نقصان کښې ستاسو ازمیښت کوو او (اے پیغمبره!)

ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٥﴾ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوٓا إِنَّا لِلَّهِ

صبر کوونکو ته | هغه چا ته چه | هر کله ورسیږي هغوی ته | (څه) مصیبت | نو وائي | بیشکه مونږ | د الله یو

صبر کوونکو ته زیرے ورکړه. دا هغه خلق دي چه څه مصیبت پرې راشي نو (د ژړا فریاد په ځائے) وائي چه مونږ خو د

وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُولَٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ

او بیشکه مونږ به د هغه طرف ته | بیرته ورګرځو | دا هغه خلق دي | په کومو چه | مهربانیانې دي | د هغوی د رب طرف نه

الله مال یو او مونږ ټول به هغه ته واپس ګرځو. هم دا هغه خلق دي په کومو چه به د خپل رب د طرف نه مهربانئ

وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾ ۞ إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ

او رحمت | او هم دوی دي | هدایت موندونکي. | بیشکه | صفا | او مروه

او رحمتونه وریږي او هم صرف دا خلق په سمه لاره باندې دي. بیشکه صفا او مروه د الله (د عبادت)

مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ ۖ فَمَنْ حَجَّ ٱلْبَيْتَ أَوِ ٱعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ

د الله تعالیٰ د نخښو نه دي | پس څوک چه | حج د خانه کعبې کوي | یا عمره کوي | نو نشته ګناه

په نخښو کښې شامل دي پس څوک چه د خانه کعبې حج ادا کوي یا عمره کوي نو په هغه څه ګناه

عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا ۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ ٱللَّهَ

په هغه باندې | چه طواف وکړي | په هغو دواړو کښې | او څوک چه | په خوشحالئ سره وکړي نیکي | نو بیشک | الله

نشته چه هغه د دې دواړو ځایونو په مینځ کښې سعي وکړي او څوک چه په خپله مینه د نیکئ کار وکړي نو الله یقیناً قبلوونکے

شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا

ډیر قدردان | پوهه دے | بیشکه | هغه خلق چه | پټوي | هغه څه چه | نازل کړل مونږ

او په هر څه ښه پوهه دے. څوک چه زمونږ نازل کړي ښکاره ایتونه او د هدایت تعلیم

مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ

دَ خلقو دَ پاره | موږ بیان کړی دی هغه | پس له هغې نه چه | او هدایت څخه | له ښکاره دلیلونو

پټوی دَ هغې نه پس چه موږ دَ خلقو دَ (فائدې دَ) پاره په خپل کتاب کښې په ښه شان سره

فِي الْكِتٰبِ ۙ أُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ ﴿١٥٩﴾

لعنت کوونکی | او لعنت کوی په هغوی باندې | الله په لعنت کوی په هغوی باندې | دی هم دا (هغه خلق) | په کتاب کښې

واضح کړی دی ، نو په هغوی باندې الله هم لعنت وروی او ټول لعنت کوونکی پرېے هم لعنت وائی ـ

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَأَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا فَأُولٰٓئِكَ أَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۚ

دَ هغوی | چه زۀ توبه قبلوم | پس هم دا خلق دی | او ظاهره کړه (حق) | او خپل عمل ئے سم کړو | چه توبه ئے وُکړه | هغه خلق | مګر

لیکن بیشکه څوک چه توبه وُباسی او خپل عمل سم کړی (او کوم تعلیم چه ئے پټولو هغه) ښکاره کړی نو زۀ به هغوی

وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ

په دې حال کښې | او مړهٔ شول | انکار کوی | کوم خلق چه | یقینًا | مهربانه | توبه قبلوونکے | او زۀ یم

معاف کړم، او زۀ توبه قبلوونکے مهربان یم ـ بیشکه کوم خلق چه انکار وُکړو او دَ انکار په دې حالت

كُفَّارٌ أُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ

او دَ خلقو | او دَ فرښتو | دَ الله | لعنت دې | په کوم چه | دا (هغه خلق) دی | چه هغوی کافران وو

کښې مړهٔ شول نو په هغوی دَ الله تعالیٰ او دَ فرښتو او دَ ټولو بنیادمو لعنتونه

أَجْمَعِيْنَ ﴿١٦١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ

عذاب | له هغوی نه | سپک به نۀ کړے شی | په دغه لعنت کښې | همیشه به وی هغوی | ټولو

وریږی شی ، هغوی به په دغه لعنت کښې همیشه وی ، نۀ به دَ هغوی نه عذاب کمولے شی ـ

وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿١٦٢﴾ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

نشته هیڅ معبود بې دَ هغۀ نه | خدائے یو دے | او معبود ستاسو | مهلت ورکولے شی | او نۀ به هغوی ته

او نۀ به هغوی ته (څۀ قدر دې) مهلت ورکولے شی ـ او (اے خلقو!) ستاسو معبود هم یو معبود دے دَ هغۀ نه سوا بل څوک

ع ١١ ١٩ ٣ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٣﴾ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

او زمکے | دَ آسمانونو | بیشکه په پیدا کولو کښې | مهربان دے | بخښونکے

معبود نشته، ډیر بخښونکے مهربان دے ـ بیشکه دَ آسمانونو او دَ زمکے په پیدا کولو کښې

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ

په دریاب کښې | چه روانه وی | او په هغه کشتۍ کښې | او ورځ کښې | دَ شپې | او په تلو راتلو

او دَ شپې او دَ ورځے په بدلیدو (او تنګ راتګ) (او لنډیدو اوږدیدو) کښې، او په هغه کشتیو کښې چه په دریابونو کښې دَ خلقو

بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ

او به | له آسمان نه | الله | چه نازل کړے | او په هغې کښې | خلقو ته | چه نفع ورکوی | په هغه څیزونو سره

دَ فائدے سامانونه اُوړی راوړی ، او په هغې اُوبو کښې چه الله تعالیٰ ئے دَ پورته نه راورې

فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ

بیا ژوندی تازه کړله | په هغه سره | ځمکه | پس د مرګ (وچیدو) د هغې نه | او خوارۀ ئې کړل | په دې کښې | د هر قسم

او د دې په ذریعه مړه (یعنې اوچه) ځمکه ژوندۍ کړه او په دې کښې ئې هر قسم ځناور

دَآبَّةٍ ۪ وَّتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ

ځناور | او په ګرځولو | د هوا ګانو کښې | او په وریځو کښې | چه په قابو کښې دی | په مینځ | د آسمان

خوارۀ کړل او د سیلو بادونو په چورلولو کښې او په هغه وریځو کښې چه د ځمکې او اسمان په مینځ کښې زورندې

وَالْأَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ

او ځمکه کښې | خامخا نخښې دی | هغه خلقو د پاره | چه عقل لري | او له خلقو نه | هغه څوک دی | چه جوړوی

ولاړې دی په دې ټولو کښې د هغه خلقو د پاره نخښې دی کوم چه عقلمند دی . او په خلقو کښې ځینې داسې هم دي چه د الله نه

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ

بې له خدائ نه | شریکان | محبت کوی هغوی سره | په شان د محبت د الله | او هغه خلق چه

سوا نور ځینې د هغه سره په برابرئ نیسي او د هغوی سره داسې محبت ساتي څنګه چه د الله سره محبت کول پکار دي او

اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا

ایمان والا دي | هغوی خو د ټولو نه زیات محبت الله سره لري | او کاش چه کتلے | هغه خلقو | چه ظالمان دي

کوم خلق چه په الله ایمان لري هغوی ته هم د الله محبت د ټولو نه زیات وي او کاش چه ظالمانو ته د دې حالت اندازه کیدے

اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ

هر کله چه به وګوری | عذاب | چه قوت الله د پاره دے ټول | او دا چه | الله

هر کله چه هغوی عذاب وګوري او ګوري چه ټول قوت او طاقت صرف هم الله ته حاصل دے او دا چه الله تعالیٰ

شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿۱۶۵﴾ اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ

سخت | عذاب ورکوونکے دے | هر کله چه ویزاره شي | هغه خلق | د کوم چه پیروي شوې وه | د هغه خلقو نه

په عذاب ورکولو کښې هم ډیر سخت دے . هغه وخت (لږ یاد کړئ) هر کله چه هغه خلق د چا پیروي چه شوې وه د خپلو

اتَّبَعُوْا وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿۱۶۶﴾

چا چه پیروي کړې وه | او هغوی به وګوري | عذاب | او غوڅ به شي | د هغوی | تعلقات

پیروي کوونکو نه د ویزارئ اظهار وکړي او هر کله چه هغوی عذاب په خپلو سترګو ووینې او د هغوی ټول رشتے او وسیلے

وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ

او وبه وائي | هغه څوک چه پیروي ئې کړې وه | چه کاش مونږ له | دوباره (تګ وي) | پس چه ویزاره شو مونږ | د هغوی نه

پرې کړې شي او چا چه په دنیا کښې د هغوی پیروي کوله وبه وائي ، کاش ! که مونږ ته د واپس تلو یو موقع راکړې شوې

كَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ حَسَرٰتٍ

څنګه چه | ویزاره شول هغوی | له مونږ نه | داسې | ښائي هغوی ته | الله | عملونه د هغوی | پښېمانتیا

نو مونږ به هم ترې داسې ویزار شو لکه چه مونږ نه ویزاره شوي دي . داسې به الله دوی ته د دوئ ټول کاره عملونه د حسرت او

عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ۝١٦٧ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

په هغوی | او نه دي هغوی | بهر ته وتونکي | د دوزخ نه | اے خلقو!

د پښیمانئ د پاره وړاندې کوي. او په هیڅ چل به د اور نه بهر وتلے نه شي. اے خلقو!

كُلُوْا مِمَّا فِى الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ

خورئ | له هغه څه نه | چه په زمکه کښے دي | حلال پاکیزه | او پیروي مه کوئ | د قدمونو

د زمکے په سر چه کوم حلال او پاکیزه څیزونه موجود دي هغه خورئ او د شیطان په جوړه کړے لارې پسے

الشَّيْطٰنِ ۭ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝١٦٨ اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ

د شیطان | بیشکه هغه | ستاسو | ښکاره دښمن دے | بیشکه چه هغه حکم کوي تاسو ته

مه ځئ. بیشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دے. هغه خو په تاسو ته د بدئ او

بِالسُّوْۗءِ وَالْفَحْشَاۗءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا

د بدکارئ | او د بے حیایئ | او دا چه | (له ځانه) وایئ | په الله باندې | هغه خبرې

د بے حیایئ د کارونو حکم درکوي او (دا یې درته ښائي) چه د الله په نوم دا (دروغ) خبرې جوړې کړئ چه د هغے

لَا تَعْلَمُوْنَ ۝١٦٩ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

چه تاسو پرې نه پوهیږئ | او هر کله چه ورته ویلے شي | هغوی ته | چه پیروي وکړئ د هغه څه | چه نازل کړي دي | الله

نه تاسو په خپله هم خبر نه یئ. او هر کله چه هغوی ته ورته ویلے شي چه الله څه نازل کړي دي د هغے پیروي وکړئ

قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَآ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَاۗءَنَا ۭ اَوَلَوْ كَانَ

نو وو ویل هغوی | بلکه مونږ خو به پیروي کوو | د هغه څه | چه مونږ لیدلي مونږ | په هغے | خپل پلار نیکه | ایا اگر که وي

نو وائي چه مونږ خو به په هغه لار چلیږو په کومه چه مونږ خپل مشران روان موندلي دي اگر که د هغوی

اٰبَاۗؤُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ شَيْــــًٔـا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ۝١٧٠ وَمَثَلُ

د هغوی پلار نیکه | چه نه پوهیدل | په هیڅ څیز | او نه به ئے سمه لار موندله | او مثال

پلار نیکه په هیڅ څیز نه پوهیږي او سمه لار ئے موندلے نه وي (نو بیا به هم د هغوی په لار روان وي؟) او د کافرانو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ

د هغو چه | کافران دي | په شان | د هغه چا دے | چه آواز کوي | هغه څیز ته | چه نه اوري

مثال د هغه چا په شان دے چه یو داسے څیز پسے چغے وهي چه سوا د بلنے او آواز

اِلَّا دُعَاۗءً وَّنِدَاۗءً ۭ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝١٧١

مگر بلنه | او چغه | کاڼه دي | گونگیان دي | ړانده دي | پس هغوی | په هیڅ نه پوهیږي

نه نور هیڅ نه اوري. دا خلق کاڼه، گونگیان او ړانده دي، نو دوي په هیڅ نه پوهیږي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ

اے | د ایمان خاوندانو! | خورئ | د پاکیزه څیزونو نه | چه درکړي دي مونږ تاسو ته

اے ایماندارو! زمونږ درکړے پاکیزه (حلال) روزي خورئ.

وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿١٧٢﴾ اِنَّمَا
او شکر کوئی | دَ الله | کهٔ چیرے تاسو | هم دَ هغهٔ | عبادت کوئی . | بیشکه
او دَ الله شکر کوئی کهٔ تاسو په رښتیا یوازے دَ هغهٔ عبادت کوئی. بیشکه الله
حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ
هغهٔ خو حرام کړے دے په تاسو | مرداره | او وینه | او غوښه | دَ خنزیر | او هغه څاروی
په تاسو باندې مرداره ، وینه ، دَ خنزیر غوښه او دا سے حلال چه دَ الله نه بغیر
اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ
په کوم چه دَ ذبح شی (نوم) | دَ غیر الله | پس څوک چه | مجبوره شی | نهٔ سرکشی کوونکے وی | او نهٔ دَ حد نه تیریدونکے وی
دَ بل چا نوم پرے اخستے شوے وی حرام کړی دی پس څوک چه نافرمانی کوونکے او دَ حد نه تیریدونکے نهٔ وی
فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٧٣﴾ اِنَّ
پس نشته گناه | په هغهٔ | بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | یقیناً
(په حالت دَ مجبورئ کښے کهٔ څوک دَ دے استعمال وُکړی) نو په هغهٔ څهٔ گناه نشته) بیشکه الله بخښونکے مهربان دے. کوم خلق چه
الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ
کوم خلق چه | پټوی | هغه څهٔ چه | نازل کړی دی | الله | له کتاب نه | او اخلی
هغه حکمونه کوم چه الله تعالیٰ په خپل کتاب کښے نازل کړی دی، پټوی او دَ دے په بدله کښے
بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ فِىْ بُطُوْنِهِمْ
په بدله دَ هغے کښے | قیمت | لږ | دغه خلق | نهٔ خوری | په خیټو خپلو کښے
دَ دُنیا معمولی فائدے حاصلوی ، هغوی په حقیقت کښے نور څهٔ نهٔ کوی خو خپلے گیډے
اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۚ
مگر اور | او نهٔ به کوی خبرے دَ هغوی سره | الله | په ورځ | دَ قیامت | او نهٔ به پاک کړی هغوی
په اور ډکوی او الله تعالیٰ به ورسره دَ قیامت په ورځ (دَ قهر نه) خبرے نهٔ کوی او نهٔ به ئے (دَ گناه نه) پاک
وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٤﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ
او دَ هغوی دَ پاره | عذاب دے | دردناک | هم دا هغه (خلق) دی | کوم چه | واخستله | گمراهی
کړی او دَ هغوی دَ پاره به دردناک عذاب وی ـ دا هغه خلق دی چا چه دَ هدایت په بدل کښے گمراهی
بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿١٧٥﴾
په بدله دَ هدایت کښے | او عذاب | په بدله دَ بخښنه کښے | پس څومره | لوئے صبر دے هغوی ته | په دوزخ
او دَ بخښنے په بدل کښے عذاب په بیعه اخستے دے نو څهٔ عجیبه حوصله لری چه دَ دوزخ په اور باندې راضی دی
ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ۗ وَاِنَّ الَّذِيْنَ
دا | دے دَ پاره چه الله | نازل کړو | کتاب | په رښتیا سره | او بیشکه | کومو (خلقو) چه
دا ځکه چه الله تعالیٰ خپل کتاب په حقه رالیږلے دے او کومو خلقو چه دَ (الله دَ) کتاب په

اخْتَلَفُوْا فِی الْکِتٰبِ لَفِیْ شِقَاقٍۭ بَعِیْدٍ﴿١٧٦﴾ لَیْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا ٢٢ ع ٥

اختلاف وکړو | په کتاب کښې | خامخا پرېوتل په ضد کښې | ډير لرې | نهٔ دهٔ | نيکي | دا چې تاسو وګرځوئ

مسئلو کښې اختلاف وکړو هغوی په جګړو کښې تر ډېر لرې لاړل. نيکي دے نه نهٔ شي و ګيڼلے چې تاسو

وُجُوْهَکُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰکِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ

خپل مخونه | مشرق او مغرب طرف ته | ليکن نيکي (خو داده) | چې ايمان راوړي

خپل مخونه مشرق ته وګرځول که مغرب ته بلکه نيکي دے ته ويلے شي چې بنده په

بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِکَةِ وَالْکِتٰبِ وَالنَّبِیّٖنَ

په الله | او په ورځ | دَ قيامت | او په فرښتو | او په کتابونو | او په پيغمبرانو،

الله تعالی، په ورځ دا آخرت، په فرښتو په کتابونو او په پيغمبرانو باندې پوخ يقين وساتي

وَاٰتَی الْمَالَ عَلٰی حُبِّهٖ ذَوِی الْقُرْبٰی وَالْیَتٰمٰی وَالْمَسٰکِیْنَ

او ورکوی | مال | دَ هغهٔ په محبت کښې | خپلو خپلوانو ته | او يتيمانو ته | او مسکينانو ته

او چې خپل مال دَ الله تعالی په محبت کښې په خپلو نزدې رشته دارانو، يتيمانو، مسکينانو

وَابْنَ السَّبِیْلِ وَالسَّآئِلِیْنَ وَفِی الرِّقَابِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ

او مسافرو ته | او سوال کوونکو ته | او په (خلاصولو دَ) سټو نو کښې | او ودروی | مونځ

مسافرو، سوال کوونکو او دَ غلامانو په آزادولو کښې خرڅ کړو، او چې دَ مونځ پابندي کوی

وَاٰتَی الزَّکٰوةَ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا وَالصّٰبِرِیْنَ

او ورکوی | زکوٰة | او چې پوره کوونکی دی | دَ خپلو وعدو | هر کله چې هغوی څهٔ وعده وکړی | او صبر کوونکی دی

او زکوٰة ورکوی او کوم (خلق) چې وعده وکړی نو هغه په ښهٔ شان سره پوره کوی او په تنګ دستئ او

فِی الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِیْنَ الْبَاْسِ اُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ صَدَقُوْا

په تنګ دستئ | او په سختئ کښې | او په وخت دَ جنګ کښې | هم دا خلق دی | رښتونی

تکليف کښې او (دَ حق او باطل) په جنګ کښې صابره وسيږی هم دا خلق رښتونی (نيکان) دی.

وَاُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ﴿١٧٧﴾ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا کُتِبَ عَلَیْکُمُ

او هم دا دی | پرهيزګاران. | اے | مؤمنانو! | فرض شوے دے | په تاسو باندې

او هم دا خلق پرهيزګاره دی. اے مؤمنانو! تاسو دَ پاره دَ وژلی شوکسانو

الْقِصَاصُ فِی الْقَتْلٰی اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ

قصاص | په وژلو شوو کښې | ازاد | په بدله دَ ازاد کښې | او غلام | په بدله دَ غلام کښې

په حقله دَ قصاص حکم ليکلے شوے دے داسے چې دَ ازاد په بدل کښې ازاد، دَ غلام په بدل کښې (يو قاتل) غلام

وَالْاُنْثٰی بِالْاُنْثٰی فَمَنْ عُفِیَ لَهٗ مِنْ اَخِیْهِ شَیْءٌ

او ښځه | په بدله دَ ښځه کښې | پس چا ته چې معافي وکړے شي | دَ هغهٔ دَ ورور دَ طرف نه | دَ څهٔ څيز

او دَ ښځے ښځے په بدل کښې (يوه قاتله) ښځه، بيا که چرے قاتل ته دَ دهٔ (مقتول) ورور (دَ وارثانو) دَ طرف نه څهٔ قدر معافي

فَاتِّبَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ؕ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ

نو مطالبه کول (پکار دی) | د دستور مطابق | او ادا کول هم پکار دی هغهٔ ته | په نیکئ سره | دا | کمی ده

وکړے شوه نو د (خون بها) فیصله په مناسب طریقه پکار ده او په راستئ بانډې (رقم) ادا کول پکار دی. دا ستاسو د رب د طرف

مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ

ستاسو د رب د طرف نه | او مهربانی | پس څوک چه | زیاتے کوی | پس له دے نه | هغهٔ د پاره دے

نه یو قسم له اسانی او رحمت دے نو څوک چه د دے نه پس هم د خپل حد نه وړاندې تیر شی نو هغهٔ له دردناک

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِى الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰۤاُولِى الْاَلْبَابِ

عذاب | دردناک | او تاسو د پاره | په قصاص کښے | ژوندون دے | اے د عقل خاوندانو!

عذاب مقرر دے. او اے عقلمندو! تاسو د پاره په قصاص اخستلو کښے ژوندون دے.

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٧٩﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ

چه تاسو | بچ شئ | فرض کړے شوے دے | په تاسو | چه هر کله | راشی | چا ته په تاسو کښے | مرګ

چه تاسو (وینے تویولو نه) منع شئ. هر کله چه په تاسو کښے د چا د مرګ وخت راشی. او هغه (په وراثت کښے)

اِنْ تَرَكَ خَيْرَا ۖۚ اۨلْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ

که چرے هغه پریږدی مال | نو وصیت دے کوی | د پلار او مور د پاره | او د خپلوانو د پاره | په ښهٔ طریقه سره

څهٔ مال دولت پریږدی نو د پلار او مور او د نږدے خپلوخپلوانو په حق کښے منصفانه وصیت کوی

حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٨٠﴾ؕ فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ

لازم شو | په پرهیزګارانو بانډې | پس څوک چه | بدل کړی هغه | پس له هغے نه چه | واورے ئې | نو بیشکه | د هغے ګناه

د پرهیزګارانو د پاره داسے وصیت کول ضروری دی. پس څوک چه د وصیت اوریدو نه پس په هغے کښے څهٔ بدلون وکړی نو د

عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٨١﴾ؕ فَمَنْ خَافَ

هم په هغوی ده | کوم چه هغه بدلوی | بیشکه | الله | اوریدونکے | پوهه دے | پس څوک چه ویریږی

دے ګناه په هغو خلقو بانډې ده کوم چه په دے کښے بدلون وکړی. بیشکه الله هرڅهٔ اوری او په هرڅهٔ پوهه دے. البته که څوک چه

مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ

له وصیت کوونکی نه | د طرفداری | یا د ګناه | پس صلح ئې راولی | د هغوی په مینځ کښے | نو نشته ګناه | په هغه

د وصیت کوونکی نه خبر شی د ویرے نه چه وصیت کوونکی څهٔ غلطی یا ګناه کړے ده او هغه په وارثانو کښے صلح وکړی نو په هغهٔ څهٔ ګناه

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٨٢﴾ؒ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ ع

بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | اے د ایمان خاوندانو! | فرض کړے شوے دی | په تاسو

نشته. بیشکه الله بخښونکے مهربان دے. اے د ایمان خاوندانو! په تاسو بانډې روژے داسے فرض

الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿١٨٣﴾ۙ

روژے | لکه چه فرض شوے وے | په هغو خلقو بانډې | کوم چه تاسو نه وړاندې وو | چه تاسو | پرهیزګار جوړ شئ

کړے شوی دی لکه چه تاسو نه وړاندې خلقو بانډې فرض کړے شوے وے چه تاسو د بدیو نه بچ شئ.

أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ

څو ورځې | دَ شمیر | پس څوک چه وی | په تاسو کښې | بیمار | یا | په سفر باندې

روژې دَ شمیر یو څو ورځې دی ، نو کوم په تاسو کښې څوک بیمار وی یا په سفر (روان) وی

فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ

نو شمیر (پوره کړی) | دَ ورځو | نورو نه | او په هغه خلقو | چه په تکلیف سره روژه نیسی | فدیه ده

نو هغه دِ په نورو ورځو کښې دَ شمیر پوره کړی او څوک چه ډیر په تکلیف سره روژه نیسی (لکه بوډاګان) نو هغه دِ فدیه

طَعَامُ مِسْكِينٍ ۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ ۚ

خوراک | دَ یو مسکین | بیا څوک چه | په خوشحالۍ کوی | نیکی | نو هغه غوره ده | دَ هغه دپاره

ورکوی (دَ یوې روژې په بدل کښې) دَ یو مسکین (په مړه ګیډه) خوراک، او څوک چه په خپله خوښه زیات خیرات ورکړی نو هغه دَ هغه

وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ

او چه | روژه ونساتئ | غوره ده | تاسو دپاره | که چیرې تاسو پوهیږئ ؟ | میاشت دَ رمضان

دَپاره غوره ده او روژه ساتل تاسو دَپاره ډیر غوره دی په شرط دَ دې که تاسو پوهیږئ ـ رمضان هغه (مبارکه) میاشت ده

الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ

هغه ده چه نازل کړی شو په هغې کښې | قرآن | چه هدایت دی | دَ خلقو دپاره | او ښکاره روښانه | له هدایت نه

چه په کښې قرآن نازل کړی شو کوم چه دَ خلقو دَ پاره رهنمائی، هدایت او په حق او باطل کښې دَ فرق کولو

وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَن كَانَ

او فرق کوونکې دی | پس هر هغه کس چه | بیاموی | په تاسو کښې | دا میاشت | نو دَ دې روژې دِ ساتی | او څوک چه وی

ذریعه ده ـ پس څوک چه دا مبارکه میاشت بیاموی هغه له پکار دی چه هغه دَ دې روژې ونیسی ـ او څوک چه

مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۗ يُرِيدُ اللَّهُ

بیمار | یا په سفر کښې | نو شمیر (دِ پوره کړی) | له نورو ورځو نه | غواړی | الله

ناروغه وی یا په سفر کښې وی نو هغه دِ په نورو ورځو کښې (دَ روژو) شمیر پوره کړی ـ الله تاسو سره نرمی کول

بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ

په تاسو | آسانی | او نه غواړی | په تاسو | تنګی | او دَ دې دپاره چه پوره کړئ | شمیر

غواړی ، او سختی کول نه غواړی (او دا چل دَ دې نه ښائی) چه تاسو دَ روژو شمیر پوره کړئ

وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٨٥﴾ وَإِذَا

او په لوئی یاد کړئ | الله | په دې چه هدایت وکړو هغه تاسو ته | او چه تاسو | شکر وکړئ | او هر کله چه

او په دې هدایت باندې دَ الله لوئی بیانوئ او چه دَ هغه شکر ادا کوئ ـ او (اې پیغمبره!) هر کله

سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ

سوال وکړی تا نه | بندګان زما | زما په حقله | پس بیشکه زه | نزدې یم | قبلوم | دُعا | دَ دُعا کوونکی

چه زما بندګان زما په حقله تا نه تپوس وکړی (نو ورته ووایه چه) زه (هغوئ ته) ډیر نزدې یم یو غوښتونکې چه څه وخت ما ته

اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَلْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ ﴿۱۸۶﴾

کوم وخت چه هغه ما ته اواز کوی | نو پکار دی چه حکم ومنی زما | او ایمان راوړی په ما | چه هغوی | لار بیا مومی ـ

خواست وکړی زه هغه قبلوم نو پکار دی چه هغوی زما حکم قبول کړی او ما باندی یقین وکړی چه هغوی سمه لار بیا مومی ـ

اُحِلَّ لَكُمْ لَیْلَةَ الصِّیَامِ الرَّفَثُ اِلٰی نِسَآئِكُمْ ؕ هُنَّ لِبَاسٌ

حلال کړی شو | تاسو د پاره | په شپه | د روژه کښی | کور والے | د خپلو ښځو سره | هغوی پرده ده

تاسو ته په روژه کښی د شپے خپلو ښځو ته نزدیکت مباح کړے شوے دے. هغوی ستاسو پرده دی

لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ؕ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ

تاسو د پاره | او تاسو | پرده یئ | د هغوی د پاره | الله ته معلومه ده | چه تاسو | کولو خیانت

او تاسو د هغوی پرده یئ ـ الله ته معلومه ده چه تاسو د خپلو ځانونو سره (پټ پټ)

اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَیْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْئٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ

د خپلو ځانونو سره | پس توبه قبوله کړه | ستاسو | او معاف ئے کړئ | تاسو | نو او س | کور والے کوئ د هغوی سره

خیانت کولو، نو هغه ستاسو توبه قبوله کړه او تاسو ئے معاف کړئ نو اوس ورسره (په روژه کښی د شپے) کور والے کوے

وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۪ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰی

او غواړئ | څه چه لیکلی دی | الله | تاسو د پاره | او خورئ | او څښئ | تر دے چه

شئ او کوم (اولاد) چه الله تاسو د پاره مقرر کړے دے د هغے خواهشمند وسیږئ (د دې نه علاوه) د شپے خوراک او څښاک هم

یَتَبَیَّنَ لَكُمُ الْخَیْطُ الْاَبْیَضُ مِنَ الْخَیْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۪

صفا ظاهر شی | تاسو د پاره | تار | سپین | له تار تور نه | د صبا

کوئ، تر دے چه د صبا سپین تار د رته د شپے د تور تار نه راښکاره شی او صبا را وخیژی ـ

ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّیَامَ اِلَی الَّیْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ ۙ

بیا | پوره کړئ | روژه | تر شپے پورے | او مه ورنزدے کیږئ ښځو ته | هر کله چه تاسو معتکف یئ

نو بیا تر ماښامه روژه کوئ او (بله دا چه) ښځو ته مه ورنزدے کیږئ کله چه تاسو په جماتونو کښی

فِی الْمَسٰجِدِ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ؕ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ

په جماتونو کښی | دا | حدونه دی د الله | پس مه ورنزدے کیږئ هغے ته | دغه شان | بیانوی

معتکف یئ ـ دا د الله مقرر کړی حدونه دی د دے ته نزدے هم مه ورځئ، الله دغه شان په وضاحت

اللّٰهُ اٰیٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ یَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ وَلَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَیْنَكُمْ

الله | خپل ایتونه | خلقو د پاره | چه هغوی | پرهیزګاره شی | او مه خورئ | خپل مالونه | په خپل مینځ کښی

سره خپل ایتونه خلقو د پاره بیانوی چه هغوی د غلطو کارونو نه بچ شی. او په خپل مینځ کښی په ناحقه د یو بل

بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَاۤ اِلَی الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِیْقًا

په ناحقه | او مه رسوئ | هغه (مالونه) | حاکمانو ته | د پاره د دے چه وخورئ | څه حصه

مال مه خورئ او مه مال حاکمانو ته په دے نیت رسوئ چه د خلقو د مال نه څه حصه په ناجائزه

مِنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ

دَ خلقو دَ مالونو | په ظلم سره | حال دا دے چه تاسو پوهه یئ | پښتنه کوي دوئ له تا نه | دَ میاشتو باره کښے

طریقو سره وُخورئ حال دا دے چه تاسو پوهیږئ ۔ (اے نبیؐ!) خلق تا نه دَ سپوږمئ (دَ لوئیدو دیدلی)

قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا

ووایه | دا | اندازے دَ وخت | دَ خلقو دَ پاره | او دَ حج دَ پاره | او نه دَه | نیکي | (دا) چه راشئ تاسو

په حقله تپوس کوي' ورته ووایه چه دا دَ خلقو دَ پاره تاریخ پیژندلو او دَ حج دَ وخت معلومولو ذریعه ده او دا خبره نیکي نه ده چه تاسو

الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ وَاْتُوا الْبُيُوْتَ

کورونو ته | دَ هغے دَ شاګانو دَ طرف نه | لیکن نیکي (خو دا) ده | څوک چه پرهیزګاري وُکړي | او راځئ تاسو | کورونو ته

خپلو کورونو ته دَ شا دَ طرف نه ورننوځئ' بلکه نیکي دا ده چه بنده ځان دَ حرامو نه بچ کړي نو تاسو کورونو ته ئے په

مِنْ اَبْوَابِهَا ۠ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾ وَقَاتِلُوْا

دَ هغے دَ دروازو نه | او ویریږئ | دَ الله نه | دَ پاره دَ دے چه تاسو | خلاصے بیا مومئ | او جنګ وُکړئ

دروازو ورننوځئ او دَ خدائے نه ویره کوئ چه کامیاب شئ ۔ او دَ الله په لاره

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

دَ الله په لاره کښے | دَ هغو خلقو سره | چه جنګ کوي تاسو سره | او زیاتے مه کوئ | بیشکه الله | نه خوښوي

کښے هغو خلقو سره جنګ کوئ څوک چه تاسو سره جنګ کوي' خو زیاتے مه کوئ ۔ زیاتي کوونکي خلق دَ الله

الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَاَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ

زیاتے کوونکي | او قتل کړئ هغوئ | کوم ځائے چه | بیا مومئ هغوئ | او وُباسئ هغوي | کوم ځائے نه

خوښ نه وي ۔ او دُښمنان کوم ځائے چه بیا مومئ وژنئ ئے ۔ او بهر ئے وُباسئ دَ کوم ځائے

اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ

چه ویستلي ئې هغوي تاسو | او فتنه | زیاته سخته ده دَ قتل نه | او جنګ مه کوئ دَ هغوي سره

نه چه ئے تاسو ویستلي یئ ۔ او دَ کفر فتنه دَ قتل نه زیاته سخته ده او دَ مسجد حرام (کعبے) په خوا کښے ورته

عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ

نزدے | مسجد حرام ته | تر دے چه | جنګ وکړي هغوي تاسو سره | په هغے کښے | پس که چرے | جنګ کوي هغوي تاسو سره

تر هغے جنګ مه کوئ تر څو چه هغوي درسره جنګ نه کوي او که چرے هغوي (په حرم کښے) هم تاسو

فَاقْتُلُوْهُمْ ۭ كَذٰلِكَ جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

پس ووژنئ هغوي | هم دغه شان | سزا ده | دَ کافرانو | پس که چرے هغوي منع شول | نو بیشکه | الله

سره جنګیږي نو تاسو ئے هم وژنئ ۔ دَ منکرانو هم دغه سزا ده ۔ بیا که هغوي (دَ جنګ نه) لاس په سر شي نو الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾ وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ

بخښونکے | مهربان دے | او جنګ کوئ هغوي سره | تر دے چه | پاتے نه شي | فتنه | او شي (قائم)

بخښونکے مهربان دے ۔ او تاسو ورسره تر هغے پورے جنګیږئ چه فتنه پاتے نه شي او دَ الله تعالیٰ دین

الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩٣﴾
دین | دَ الله | پس کهٔ چرې | هغوی منع شول | نو نشته سختي | مګر | په ظالمانو .
قائم شي پس کهٔ چرې هغوی منع شي نو دَ ظالمانو نه سوا په بل چا سختي مهٔ کوئ .
اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ
میاشت | حرامه | په بدله دَ میاشتې | حرامې کښې دهٔ | او په ټولو حرمتونو کښې | قصاص دے .
دَ حرامې (یا حرمت) میاشتې بدل حرامه میاشت دهٔ او دَ ټولو محترمو څیزونو لحاظ به برابر ساتلے شي .
فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى
بیا څوک چه | زیاتے وُکړي | په تاسو | تاسو هم زیاتے وُکړئ | په هغه | په شان | دَ زیاتي کولو دَ هغهٔ
نو څوک چه په تاسو باندې زیاتے وُکړي تاسو هم دَ هغهٔ دَ زیاتي جواب ورکړئ څنګه چه هغهٔ په تاسو زیاتے
عَلَيْكُمْ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩٤﴾
په تاسو باندې | او وویریږئ | دَ الله نه | او پوهه شئ | چه | الله | دَ پرهیزګارانو سره دے .
وُکړو . او (په هر حال کښې) دَ الله نه ویریږئ او یقین ساتئ چه الله دَ پرهیزګارانو سره دے .
وَاَنْفِقُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ
او خرڅ کوئ | دَ الله په لاره کښې | او مهٔ غورزوئ (غُحانونه) | دَ خپله لاسه | په هلاکت کښې
او دَ الله په لاره کښې (مال) خرڅ کړئ او په خپلو لاسو ځان هلاکت ته مهٔ غورځوئ .
وَاَحْسِنُوْا ۛ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٩٥﴾ وَاَتِمُّوا الْحَجَّ مع ١
او نیکي کوئ | بیشکه | الله | دوست لري | نیکي کوونکي | او پوره کړئ | حج
او نیکي کړئ ، یقیناً الله تعالیٰ هغه خلق خوښوي کوم چه نیکوکار دي او حج او عمره دَ الله دَ رضا
وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْىِ ۚ
او عمره | الله دَ پاره | پس کهٔ چرې | راګیر کړے شوئ تاسو | نو لازم دے هغه څیز چه اسان وي | له قربانئ نه
دَ پاره پوره کوئ او کهٔ چرې (په لاره کښې) حصار کړے شئ نو هر څهٔ قرباني چه مومندے شئ هغه ورکړئ
وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْىُ مَحِلَّهٗ ؕ
او مهٔ خرایئ | خپل سرونه | ترڅو چه | ورسیږي | قرباني | خپل ځائے ته
او خپل سرونه ترهغې مهٔ خرایئ ترڅو چه قرباني خپل ځائے ته وُنهٔ رسي .
فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ
بیا څوک چه وي | له تاسو نه | بیمار | یا هغهٔ ته څهٔ تکلیف وي | دَ سر | نو فدیه دې ورکړي
پس تاسو کښې کهٔ چرې څوک بیمار وي یا دَ هغهٔ په سر کښې څهٔ تکلیف وي (او سر خرئیل غواړي) نو دَ
مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ ٚ فَمَنْ تَمَتَّعَ
دَ روژو نه | یا | صدقې نه | یا قربانئ نه | بیا چه هر کله تاسو په امن شئ | پس څوک چه فائده واخلي
فدیې په طور دِ روژے ونیسي یا دِ خیرات ورکړي یا قرباني دِ وُکړي . بیا چه کله په امن شئ نو څوک چه عمره دَ

بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ

عمرې نه | حج پورې | پس لازم دي هغه څيز چه اسان وي | له قربانئ نه | بيا څوک چه | بيا نه مومي (قرباني)

حج سره يو ځائ کړي (او فائده حاصلول وغواړي)، نو د خپل وس مطابق قرباني دې وکړي او چا ته چه (د قربانئ څاروی)

فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ

پس روژې دې ونيسي | درې | د حج په ورځو کښې | او اووه ورځې | کوم وخت چه راوګرځئ تاسو | دا

ملاؤ نه شي نو هغه دې د حج په ورځو کښې درې روژې ونيسي او اووه روژې دې په واپسئ ونيسي دا پوره

عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي

لس | پوره شوې | دا (حکم) | د هغه چا دپاره دې | چه نه وي | کورنئ د هغه | حاضر/ اوسيدونکي

لس (روژې) شوې، دا حکم هغه چا دپاره دې د کوم کورنئ چه د مسجد حرام په خوا کښې

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ

د مسجد حرام | او ووېرېږئ د الله نه | او پوهه شئ | چه بيشکه الله | سخت

کښې نه وسيږي. او د الله نه ووېرېږئ او ښه پوهه شئ چه الله تعالیٰ په عذاب ورکولو کښې

الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ اَلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومٰتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ

عذاب ورکوونکې دې | د حج | يو څو مياشتې دي | معلومې | پس چا چه | لازم کړه په ځان باندې | په دې مياشتو کښې

ډېر سخت دې. د حج مياشتې (ټولو ته) معلومې دي. پس څوک چه په دې مياشتو کښې د

الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا

حج | نو نه دې جائز کوروالې خبرې | او نه دې ګناه کول | او نه جنګ جګړې | (د) حج (په ورځو) کښې | او څه چه کوئ تاسو

حج اراده وکړي نو (هغه دې خبر شي چه) د حج په ورځو کښې کوروالې، ګناهونه او جګړې (خاص طور سره) منع دي او هر څه نيک کار

مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ۗ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى ۚ

له نيکئ نه | نو پوهه دې په هغې باندې الله | او توښه د خان سره واخلئ | پس بيشکه غوره | فائده د توښې | پرهيزګاري ده.

چه تاسو کوئ هغه الله ته معلوم دې، او ځان سره توښه اخلئ بيشکه چه د ټولو نه ښه توښه تقویٰ ده.

وَاتَّقُونِ يٰأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا

او وويرېږئ له مانه | اے د عقل خاوندانو! | نشته دے | په تاسو | څه ګناه | چه ولټوئ

او اے عقلمندو! صرف هم ما نه ووېرېږئ، په دې خبره کښې په تاسو څه ګناه نشته که (د حج په ورځو کښې) د الله فضل

فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ۗ فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِّنْ عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ

فضل | د خپل رب | پس هر کله چه واپس شئ تاسو | د عرفات نه | نو ياد کړئ | الله

(يعنې مال او ګټه په ذريعه د تجارت) غواړئ. نو هر کله چه د عرفات نه راوګرځئ نو د مشعر حرام (مزدلفې) سره

عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۖ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَإِنْ كُنْتُمْ

په نزد | د مشعر حرام | او ياد کړئ هغه | لکه چه هغه هدايت در کړو تاسو ته | او اګر چه وئ تاسو

نزدې د الله ذکر کوئ. او په هغه شان د الله ذکر کوئ څنګه چه درته چل ښودلې دې او د دې نه وړاندې

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا

له دے نه وړاندې | له هیرونکو نه | بیا | واپس شئ

تاسو خلق یقینًا بے خبره وئ۔ بیا کوم ځائے (میدان د عرفات) نه چه

مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

کوم ځائے نه چه | واپس شول | خلق | او بخښنه غواړئ | د الله نه | بیشکه

خلق راګرځی تاسو هم (اے قریشو!) هم د هغه ځائے نه واپس شئ او د الله نه بخښنه غواړئ بیشکه

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾ فَاِذَا قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ

الله | بخښونکے | مهربان دے | پس هر کله چه | تاسو ادا کړئ | ارکان د حج خپل

الله بخښونکے مهربان دے۔ بیا چه د حج کارونه پوره کړئ

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ؕ

نو یاد کړئ | الله | لکه چه تاسو یې یادول | خپل پلار نیکه | بلکه له دې نه ډیر زیات یادول

نو څنګه چه خپل پلار نیکه یادوئ نو دغه رنګ الله هم (په منیٰ کښې) یادوئ بلکه دا ذکر د دې نه هم زیات (جذبه سره)

فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا

بیا د خلقو نه | هغه څوک دی چه وائی | اے زمونږه ربه! | راکړه مونږ ته | په دنیا کښې

دوی۔ بیا ځنې خلق وائی چه اے زمونږه ربه! مونږ له هم په دنیا کښې راکړه (څه چه راکوے)

وَمَا لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ

او نشته د هغه د پاره | په اخرت کښې | څه برخه | او په دوی کښې (ځنې) هغه دی

دا سے بنده د پاره په اخرت کښې هیڅ برخه نشته او ځنې هغه دی چه

يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِى الْاٰخِرَةِ

چه وائی | اے زمونږه ربه! | راکړه مونږ ته | په دنیا کښې | ښیګړه | او په اخرت کښې

وائی اے زمونږه ربه! مونږ له په دنیا کښې هم ښه ژوند راکړه او په اخرت کښې هم ښه

حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ

(هم) ښیګړه | او بچ کړه مونږه | د دوزخ د عذاب نه | هم دا دی | کوم د پاره چه | برخه ده

اجر راکړه۔ او مونږ د دوزخ عذاب نه وساته۔ دغه خلق به د خپلو عملونو په وجه (په دواړه

مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ وَاذْكُرُوا

د هغه نه | کوم چه ګټلے دوی | او الله | زر حساب اخستونکے دے۔ | او ذکر کوئ

جهانو کښې) برخه واخلی۔ او الله ډیر زر حساب اخستونکے دے او د شمیر په

اللّٰهَ فِىْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِىْ يَوْمَيْنِ

د الله | په څو ورځو | شمیرلے شوو کښې | پس څوک چه تلوار وکړی | په دوو ورځو کښې

دغو ورځو کښې الله یادوئ نو څوک چه په دوه ورځو کښې وړاندې واپس شی

النصف

فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ

پس نشته دے | ګناه | په هغه | او څوک چه | وروسته پاتے شي | پس نشته دے ګناه | په هغه

نو په هغه هیڅ ګناه نشته او څوک چه (یوه ورځ) زیاته ډلګوی په هغه هم ګناه نشته

لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ

کوم چه ویریږی (د الله نه) | او ووېرېږئ | د الله نه | او پوهه شئ | چه تاسو | د هغه طرف ته

دا هغه سړی د پاره دے چه د الله د نافرمانئ نه ویریږی او هم د الله نه ووېرېږئ او یقین ساتئ چه تاسو له هم د هغه

تُحْشَرُوْنَ ۝٢٠٣ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ

به جمع کولے شئ. | او ځنے له خلقو نه | هغه څوک دی | چه خوشحالوی تا | خبره د هغه

سره جمع کیدل دی. او ځنے خلق داسے دی چه د دنیا په حقله د هغه خبرے په تاسو ښے او

فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِىْ قَلْبِهٖ ۙ

د دنیا په ژوند کښے | او ګواه کوی | الله | په هغه څه چه | د هغه په زړه کښے دی

خوږے لګی او هغه په خپله نیک نیتئ باندے بیا بیا الله ګواه نیسی، خو

وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ۝٢٠٤ وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِى الْاَرْضِ

حال دا دے چه هغه سخت جګړه مار دے | او هر کله چه واپس شی | نو منډے وهی | په زمکه کښے

په حقیقت کښے هغه په جګړه کښے ډیر سخت دے او هر کله چه مرتبه بیا مومی نو په وطن کښے د دے کوشش کوی

لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ؕ وَاللّٰهُ

چه تباهی راولی | په دے کښے | او تباه کړی | فصل | او جاندار | او الله

چه فساد خور کړی ، او فصلونه ګوښمال کړی او د بنیاد مو نسل هلاک کړی او الله

لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ۝٢٠٥ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ

نه خوښوی | فساد | او هر کله چه ووئیلے شی | هغه ته | چه ووېرېږه | د الله نه | نو تیاروی هغه

فساد (خورونکی) هیچرے نه خوښوی او هر کله چه ورته ووئیلے شی چه د الله نه ووېرېږه نو په عزت کښے

الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝٢٠٦

عزت | په ګناه باندے | پس هغه د پاره کافی دے | دوزخ | او خامخا هغه بد | ځائے دے.

راشی او نور هم ګناه کوی نو داسے کس له دوزخ بس دے. او هغه ډیر خراب ځائے دے.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ؕ

او له خلقو نه ځنے | هغه څوک دی | چه خرڅوی | خپل ځانونه | د پاره د حاصلولو د رضامندئ | د الله

او ځنے هغه خلق هم دی چه د الله د رضا د حاصلولو د پاره خپل سرونه ور کوی ، او

وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ ۢ بِالْعِبَادِ ۝٢٠٧ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِى السِّلْمِ

او الله | ډیر مهربان دے | په بندګانو خپلو | اے ایمان والوٴ! | داخل شئ | په اسلام کښے

الله په خپلو (نیکو) بندګانو ډیر مهربان دے. اے مؤمنانو! په اسلام کښے پوره پوره

كَآفَّةً ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٠٨﴾

ټول پوره | او پيروي مه کوئ | دَ قدمونو | دَ شيطان | بيشکه هغه ستاسو | ښکاره دُښمن دے

ورننوځئ . او دَ شيطان په جوړه کړے لارِ مه ځئ، هغه يقيناً ستاسو ښکاره دُښمن دے.

فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا

پس که چرے ښوئيدلئ | پس له هغے نه | چه راغلل تاسو ته | دلائل ښکاره | پس پوهه شئ

نو که چرے دَدے ښکاره دليلونو دَراتلو نه پس هم تاسو ښوئيږئ نو ياد لرئ چه الله

اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٠٩﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ

چه الله | غالب | دانا دے | آيا | هغوی انتظار کوی | صرف | دَدے | چه راشی هغوی ته

په هرڅه بانډې غالب او ډير دانا دے . (که دوئ او س هم نه منی) نو آيا دوی په دے انتظار کښے

اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ

الله | په شپرو کښے | دَ وريځو کښے | او (راشی) فرښتے | او انجام ته ورسولے شی

ناست دی چه الله ورته په خپله دَ وريځے دَ څيرِ لاندې دَ فرښتو په ميځ کښے راشی او ټوله خبره

الْاَمْرُ ۗ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿٢١٠﴾ سَلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

کار | او هم الله طرف ته | بيرته گرځولے شی | (ټول) کارونه | پوښتنه وکړه | دَ بنی اسرائيلو نه

خلاصه شی . او (آخر) ټول معاملے هسے هم هغه ته پيش کيږی . دَ بنی اسرائيلو نه تپوس وکړه چه مونږ

ع ٢٥ / ٩

كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۢ بَيِّنَةٍ ۗ وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ

چه څومره ورکړے مونږ هغوی ته | نخښے | روښانه | او څوک چه | بدل کړی | نعمت | دَ الله

هغوی ته څومره ښکاره نخښے را ليږلی دی. او څوک چه دَ الله نعمت دَ ملاوېدو

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ

پس له هغے نه | چه راغے دهٔ ته | پس بيشکه الله | سخت | عذاب ورکوونکے دے | ښائسته کړے شوے

نه پس دا بدل کړی نو (ياد ساتئ) چه الله سخت عذاب ورکوونکے دے . او کافرانو ته

لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ

کافرانو ته | ژوند | دَ دُنيا | او ټوقے کوی | هغو خلقو پورے | کوم چه ايمان راوړی

دَ دُنيا ژوند ښائسته ښکاری او نن ورځ هغوئ مؤمنانو پورے ټوقے کوی .

وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ

او هغه خلق چه | پرهيزګاردی | دَ پاسه دَ هغوی به وی | دَ قيامت په ورځ | او الله | روزی ورکوی

او دَ قيامت په ورځ به دغه پرهيزګاران دَ هغوی دَ پاسه وی ، او (په دنيا کښے خو) الله چه چاله

مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾ كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۫

چاته چه | غواړی | بے حسابه . | وُو | ټول خلق | په يو دين بانډې

غواړی نو بے حسابه روزی ورکوی (دَ مومن او کافر فرق نه کوی) اول اول خلق په يو دين بانډې وُو (بيا هر کله چه

فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ وَاَنْزَلَ

پس راولیږل الله | پیغمبران | زیرے ورکوونکی | او ویروونکی | او نازل ئے کړو

اختلاف پیدا شو) نو الله تعالیٰ نبیان راولیږل چه (نیکانوته) زیرے ورکوونکی او (بدانو) ویروونکی ؤو ۔ او دَ هغوی سره

مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا

دوی سره | کتاب | برحق | چه فیصله وکړی | په خلقو کښے | په هغه خبره کښے

ئے برحق کتابونه نازل کړل ، چه دَ اختلافاتو په حقله دَ خلقو ترمینځه فیصلے

اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ

په کومه کښے چه به هغوی اختلاف کولو | او اختلاف ئے نه کړو | په دے کښے | مګر هغه خلقو | چاته چه ورکړے شوے وو هغه (کتاب)

وکړی ۔ او دا اختلاف کوونکی صرف هم هغه خلق ؤو چاته چه (کتاب) ورکړے شوے ؤو

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ بَغْيًاۢ بَيْنَهُمْ ۚ فَهَدَى

پس دَ هغے نه چه | راغلی ؤو هغوی ته | (روښانه) دلیلونه | په خپل مینځ کښے دَ ضد په وجه | بیا هدایت وکړو

او دَ څرګندو دلیلونو راتللو نه پس (حکم) ئے شروع کړے ؤو چه ضد بازئ ئے کوله ، نو چا چه ایمان راوړے

اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ؕ

الله | هغو خلقو ته | چه ایمان دار دی | په کوم کښے چه هغوی اختلاف کولو | دَ هغے (حقه خبرے) | په خپل حکم

دو هغوی ته الله تعالیٰ په خپل اذن سره په اختلافی خبرو کښے سمه لار وښودله او دَ هر چا

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢١٣﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ

او الله | هدایت کوی | هغه چاته چه وغواړی | دَ سمے لارے | ایا تاسو خیال کوئ

په حقله چه دَ خدائے رضا شی نو هغوی په سمه لار روان کړی ، ستاسو ګنی دا خیال دے

اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا

چه | داخل به شئ | جنت ته | او حال دا دے چه نه دے راغلے تاسو ته | حالات دَ هغه کسانو | چه تیر شوی دی

چه (هیڅ) بے جیتځ) به جنت ته داخل شئ؟ او هغه شان سختے درباندے تیرے شوی نه دی لکه

مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى

له تاسو نه وړاندې | رسیدلے وه هغوی ته | تنګی | او سختی | او جړ قولے شوی ؤو | تر دے چه

په مخوانو خلقو چه تیرے شوے دے په هغوی دومره سختی او داسے مصیبتونه راغلل او دومره وُجړولے

يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ

وُوئیل | رسول | او کوم خلق چه | ایمان راوړے وو | دَ هغه سره چه کله به وی | مدد | دَ الله

شول چه دَ (هغه وخت) پیغمبر او دَ هغهٔ ایمانداران ملګرو چغے کړے چه دَ خدائے امداد به کله راځی؟ (هغوی ته

اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿٢١٤﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ

واورئ | بیشکه | امداد | دَ الله | نزدے دے | پوښتنه کوی دوی له تانه | چه څه خرڅ وکړی

تسلی ورکړے شوه چه) خبر شئ دَ خدائے امداد نزدے دے (اے پیغمبره!) تا نه خلق پوښتنه کوی چه څهٔ خیرات کړی ۔

قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ

ووايه | څه خيز چه خرڅ کوئ | د مال نه | (هغه) د مور پلار | او خپلو خپلوانو

ورته ووايه هر څه چه (د توفيق مطابق) په خيرات کښې ورکوئ نو مور پلار ، خپلو خپلوانو

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ

او يتيمانو | او مسکينانو | او د مسافرو (حق) دے | او څه چه کوئ تاسو | له نيکئ نه

يتيمانو ، مسکينانو او مسافرو ته ئے ورکوئ او تاسو چه د نيکئ په خاطر هرڅه ورکړئ

فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ

پس بيشکه | الله | په هغه | ښه پوهه دے | فرض کړے شوے دے | په تاسو باندې | جهاد | او هغه ګران دے تاسو ته

نو هغه الله ته معلوم وي . تاسو ته د جهاد حکم درکړے شوے دے او هغه ستاسو ناخوښه دے

وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا

او ممکنه ده | چه ناخوښه به ګڼئ تاسو يو څيز | او هغه غوره وي | تاسو د پاره | او ممکنه ده چه خوښوئ به تاسو

او کله به يو څيز ستاسو ناخوښه وي خو هغه به تاسو د پاره غوره وي او کله به يو څيز ستاسو خوښ

شَيْئًا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢١٦﴾ ع ٢٦ ١٠

يو څيز | او هغه به | بد وي | تاسو د پاره | او هم الله پوهيږي | او تاسو نه پوهيږئ .

وي خو هغه به تاسو د پاره بد وي . او د هرڅه حقيق علم الله ته دے او تاسو ته هيڅ علم نشته .

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ؕ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ

تپوس کوي دوي له تانه | په مياشت عزتمنه کښې | د جنګ په حقله | ووايه | جنګ کول | په دے کښې

(اے رسوله!) تانه خلق تپوس کوي چه د حرمت په مياشتو کښې جنګ کول څنګه دي ؟ ورته ووايه چه په دے مياشتو کښې جنګ

كَبِيْرٌ ؕ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ

لويه (ګناه) ده | او منع کول | د الله د لارے نه | او د دے نه انکار کول | او مسجد حرام نه (منع کول)

کول ډيرغټ جرم دے خو د خدائے د لارے نه خلق منع کول او د خدائے نه انکار کول او د مسجد حرام (کعبے) لارے بندول او د

وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ

او ويستل د دے اوسيدونکي | د دے نه | د دے نه هم زياته (ګناه) ده | د الله په نزد | او فتنه (پورته کول)

هغه ځائے خلق (د ملک نه) شړل د خدائے په نزد د جنګ نه هم ډير لوئے جرم دے او فتنه د

اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ؕ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ

د قتل نه هم لوئے جرم دے | او هغوي هميشه | به جنګ کوي تاسره | ترڅو چه واړوي تاسو

قتل نه لوئے جرم دے او دوي خو به درسره برابر تر هغه وخته پورے جنګيږي چه کله ورته ئے بريښي نو چه د

عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ؕ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ

ستاسو د دين نه | که چرے د دوي وس وشي | او څوک چه واپس وګرځي | له تاسو نه | د خپل دين نه

(اسلام د) دين نه مو پسته ته وګرځوي او ياد ساتئ چه په تاسو کښې څوک د خپل دين نه وګرځي ،

فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا

په دُنیا کښې | دَ هغوی عملونه | (چه) ضائع شول | پس هم دا هغه خلق دی | او هغه کافر وی | بیا مړ شی

او بیا کافر مړ شی ، نو دَ هغوی عملونه په دُنیا او اٰخرت دواړو کښې عبث

وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَأُولٰٓئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢١٧﴾

او په اٰخرت کښې | او هم هغه دی | اُوسیدونکی دَ دوزخ | چه هم په دے کښې به همیشه وی.

لاړل ـ او هم دغه خلق دوزخیان دی ، او تل به په دوزخ کښې پراته وی .

إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

بیشکه کوم خلق چه | ایمان راوړے | او کوم چه | هجرت ئے کړو | او جهاد ئے وکړو | دَ الله په لاره کښې

بیشکه چا چه ایمان راوړے دے او چا چه دَ الله په لاره کښې کلے وطن پریښودلے او جهاد ئے کړے دے .

أُولٰٓئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢١٨﴾

هم هغه دی | اُمیدوار | دَ الله دَ رحمت | او الله | بخښونکے | مهربان دے.

هم هغوئ دَ الله دَ رحمت اُمیدواره دی او الله بخښونکے مهربان دے (په هغوی به رحمتونه وروی)

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ

تپوس کوی دَ ګډلے تا نه | دَ شرابو | او جوارئ (په حقله) | ووایه | په دے دواړو کښې | ګناه ده | لویه

(اے پیغمبره!) دوی تا نه دَ شرابو او دَ جوارئ په حقله تپوس کوی ورته ووایه چه په دے دواړو کښې ډیره خرابئ دی

وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ

او فائدے دی | خلقو دَ پاره | او ګناه دَ دے دواړو | ډیره لویه ده | دَ دے دَ فائدے نه

او خلقو دَ پاره فائدے هم دی ، خو دَ دے دواړو نقصانونه دَ فائدے نه ډیر زیات دی .

وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلِ الْعَفْوَ ۗ كَذٰلِكَ

او تپوس کوی دوی لے تا نه | چه څه خرچ کړی (دَ الله په لاره کښې) | ووایه | کوم چه ورته زیات وی | هم دغه شان

او خلق تا نه تپوس کوی چه دَ الله په لاره کښې څه خرچ کړی ، ووایه چه (خو مره ستاسو) دَ ضرورتونو نه زیات وی ،

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾

بیانوی | الله | تاسو دَ پاره | اٰیتونه | دَ پاره دَ دے چه تاسو | فکر وکړئ .

دغه شان الله تاسو ته صفا صفا حکمونه اَوروی ، چه تاسو دَ غور او فکر نه کار واخلئ

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ۖ قُلْ

دَ دُنیا او دَ اٰخرت په باره کښې | او تپوس کوی دَ ګډلے تا نه | دَ یتیمانو په حقله | ووایه

دَ دُنیا او دَ اٰخرت دواړو په معاملو کښې غور او فکر وکړئ - او خلق تا نه دَ یتیمانو په حقله تپوس کوی ، ووایه

إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ۖ وَإِن تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ ۚ

دَ هغوی اصلاح کول | غوره دی | او که چرے | شریک کړئ دَ هغوی سره | نو هغوی ستاسو ورونړه دی

چه دَ هغوی سره نیکی کول غوره دی او که تاسو دَ هغوی خرچ شریک وساتئ نو (خیر دے) هغوی ستاسو ورونړه دی

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

او الله پیژني | تباه کار | د اصلاح کوونکي نه | او که چیرې | الله غوښتلې

او الله ته معلوم دي چه څوک خرابي پیدا کوي او څوک اصلاح کوونکي دي او که چیرې الله غوښتلې

لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ

نو په تکلیف کښې به یې اچولي تاسو | بیشکه الله | غالب | د حکمت خاوند دې | او مه | اخلئ په نکاح | مشرکانې ښځې

نو تاسو به یې دا معامله سخته کړې وه. بیشکه الله د اختیار او حکمت خاوند دے او مشرکو ښځو سره تر هغې نکاح مه کوئ

حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ

تر دې | چه ایمان راوړي | او خامخا وینځه | مؤمنه | ډیره ښه ده | د مشرکې ښځې نه

ترڅو چه ایمان رانه وړي او مؤمنه وینځه ښه ده د مشرکې نه اګر که هغه (د مال یا د جمال

وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ

اګر که هغه خوښې وي ستاسو | او په نکاح مه ورکوئ (ښځې) | مشرکانو سره ته | تر دې چه هغوی ایمان راوړي

په وجه) ستاسو خوښه وي او مؤمنانې ښځې د مشرکانو سره په نکاح کښې مه ورکوئ ترڅو چه هغوی ایمان رانه وړي

وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ

او خامخا مؤمن غلام | غوره دې | له مشرک نه | اګر چه | هغه تاسو ته ښه ښکاري | دا خلق | بلنه ورکوي

او یاد ساتئ چه یو غلام مؤمن د ازاد مشرک نه ډیر غوره دے اګر چه په ظاهره ستاسو خوښ وي، دا (مشرکان) خو

اِلَى النَّارِ ۖۚ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ

دوزخ طرف ته | او الله | بلنه ورکوي | جنت | او بخښنې طرف ته | په خپل حکم سره

دوزخ طرف ته بلنه ورکوي. او الله په خپل حکم سره جنت او مغفرت طرف ته بلنه کوي،

وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۲۱﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ ٢٧ ع ١١

او بیانوي | آیتونه | د خلقو د پاره | چه هغوی | نصیحت حاصل کړي | او تپوس کوي د ولهٔ تا نه

او هغه خلقو ته حکمونه څکه ښائي چه هغوی تر دې نه سبق واخلي ـ او (اے نبي ﷺ) خلق تا نه تپوس

عَنِ الْمَحِيْضِ ؕ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ

د حیض په حقله | ووایه | دا پلیتي ده | پس جدا ته شئ | له ښځو نه | په حالت د حیض کښې

کوي چه د حیض په حقله څه حکم دې؟ ورته ووایه چه دا پلیتي ده، په دے ورځو کښې د ښځو نه بیل وسئ

وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ فَاْتُوْهُنَّ

او مه نزدے کیږئ هغوی ته | تر دے چه هغوی پاکې شي | بیا چه کله هغوی پاکې شي | پس نزدے کیږئ هغوی ته

او هغوی ته نزدے مه ځئ تر دے چه هغوی پاکې شي نو هر کله چه ښځې پاکې شي نو بیا ورته هغه شان

مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

د کوم ځائے نه چه | حکم در کړے دے تاسو ته الله | بیشکه | الله | خوښوي

نزدیکت کوئ لکه څنګه چه الله تاسو ته حکم در کړے دے. بیشکه الله هغه خلق خوښوي

الْتَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَآؤُكُمْ

توبه کوونکي | او خوښوي | ځان پاک ساتونکي | ستاسو ښځې

چه توبه کوونکي او پاک پاکیزه اوسیدونکي وي. ستاسو ښځې

حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوْا

ستاسو پټي دي | پس راځئ تاسو | خپلو پټو ته | څنګه چه | غواړئ تاسو | او وړاندې ولیږئ

ستاسو پټي دي نو خپلو پټو ته چه څنګه غواړئ هغسې ورشئ او د خپل ځان د پاره

لِاَنْفُسِكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ وَبَشِّرِ

د خپلو ځانونو د پاره | او ویریږئ | د الله نه | او پوهه شئ | چه بیشکه تاسو | د هغه سره ملاقات کوونکي یئ | او زیری ورکړه

توښه وړاندې ولیږئ او د الله نه ویره ساتئ او یاد لرئ چه هغه ته به حاضرېدل پېش کیږئ او (اے نبيّ!)

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢٢٣﴾ وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً لِّاَيْمَانِكُمْ

مؤمنانو ته | او مه جوړوئ | الله | نخښه | د خپلو سوګندونو

مؤمنانو ته (د نجات) زیری ورکړه. او د خدائے نوم د خپلو قسمونو د پاره بهانه مه ګرځوئ

اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ وَاللّٰهُ

چه نیکي ونه کړئ | او پرهیزګاري پرهیزکاره کړئ | او اصلاح ونه کړئ | د خلقو په مینځ کښې | او الله

چه د نیکئ، تقوىٰ او د خلقو تر مینځه د روغې راوستلو نه پرې ځان منع کړئ او الله

سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٢٤﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ

اوریدونکے | دانا دے | نه نیسي تاسو | الله | په لغوه سره | په سوګندونو ستاسو کښې

هرڅه اوري او په هرڅه پوهه دے. الله تاسو په لغوه (بے ارادے) قسمونو باندې نه نیسي.

وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

لیکن | نیسي تاسو | په هغه څه چه اراده کړې وي هغې ته | زړونو ستاسو | او الله | بخښونکے

لیکن ستاسو په هغو قسمونو به مواخذه نیسي چه ستاسو د زړه د ارادے نه وي او الله ډیر معاف کوونکے

حَلِيْمٌ ﴿٢٢٥﴾ لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ

بردبار دے | هغو د پاره | کوم چه قسم خوري | د خپلو ښځو نه | مهلت (دے)

بردبار دے کوم خلق چه خپلو ښځو ته د تللو نه قسم وخوري، هغوی ته د څلورو

اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٢٦﴾

د څلورو میاشتو | بیا که چرے | هغوی رجوع وکړي | نو بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے.

میاشتو مهلت دے. که (په دے مینځ کښې) رجوع وکړي نو الله معاف کوونکے مهربان دے.

وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٢٧﴾

او که چرے | هغوی پخه اراده وکړه | د طلاق | نو بیشکه | الله | اوریدونکے | دانا دے

او که چرے هغوی د طلاق ورکولو پخه اراده وکړي نو بیشکه الله هرڅه اوري او په هرڅه پوهه دے.

وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ۭ وَلَا يَحِلُّ

او طلاقې شوې ښځې | به انتظار کوي | په ځانونو خپلو | درېيو | حيضو | او نه دي روا

او هغه ښځې کوم ته چه طلاق شوے وي هغوي درے حيضه (يا درے طهره پورے) انتظار کوي او هغوي له دا جائز

لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ

د هغوي پاره | چه پټ کړي | کوم چه پيدا کړي دي الله | د هغوي په ګېډو کښې | که چرے هغوي

نه دي چه هغوي هغه څيز کوم چه الله د هغوي په ګېډه کښې پيدا کړے دے، پټ کړي که هغوي په

يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ

ايمان راوړي | په الله | او په ورځ | د اخرت | او د هغوي خاوندان | زيات حقدار دي | په بېرته راوستلو د دوي

الله او په ورځ د اخرت باندې ايمان لري او په دے ميعاد (عدت) کښې دننه دننه د هغوي خاوندان د واپس

فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا ۭ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ

په دے موده کښې | که چرے اراده لري دوي | د اصلاح | او ښځو لره حقونه دي | په شان | د هغې چه

اخستلو زيات حق لري که دوي خپل کور روغ جوړ ساتل غواړي، او د ښځو هم د دستور مطابق هغسے حقونه دي

عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۠ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۭ وَاللّٰهُ

په دے ښځو دي | په ښه طريقه | او سړو له دے | په دوي باندې | اوچتوالے | او الله

لکه چه د سړو په هغوي باندې حقونه دي البته سړو ته په ښځو باندې لږ فضيلت حاصل دے۔ او الله

عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٢٨﴾ اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۠ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ ٢٨ ع ١٢

غالب | او حکمت خاوند دے | طلاق (رجعي) دوه کرته دے | بيا ځان سره ساتل دي | په ښه خوئ سره

غالب او حکمت خاوند دے۔ طلاق دوه ځله دي بيا يا خو په روغ زړه ساتل دي او يا

اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ۭ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ

يا ئې پرېښودل دي | په ښېګړے سره | او حلال نه دي | تاسو د پاره | چه واخلئ تاسو | د هغه څه نه

په ښه طريقه رخصتول دي. او تاسو له روا نه دي چه څه (مهر وغيره) مو هغوي ته ورکړے وي د

اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْــًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا

کوم چه ورکړي دي تاسو هغوي ته | څه شے | مګر (په دے صورت کښې) | چه دواړه وېرېږي | چه قائم به نه شي ساتلے شي

هغې نه څه برخه واپس واخلئ، هو (يو صورت دے) که دواړه په دے وېرېږي چه د الله په مقرر کړو

حُدُوْدَ اللّٰهِ ۭ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ

د الله حدونه | بيا که چرے | تاسو ته وېره وي | چه هغه دواړه به قائم و نه ساتلے شي | حدونه | د الله

حدونو به قائم پاتے نه شي، نو که تاسو سره دا وېره پيدا شي چه هغه دواړه (ښځه خاوند) به د الله په حدونو

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ۭ تِلْكَ حُدُوْدُ

نو نشته (څه) ګناه | په هغه دواړو | په هغې کښې | چه ښځه معاوضه ورکړي (او ځان خلاص کړي) | دا حدونه دي

قائم پاتے نه شي نو په دے کښې هيڅ حرج نشته که ښځه څه عوضانه ورکړي (او ځان خلاص کړي) دا د الله مقرر

اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ

دَ الله | پس مه تېرېږئ ترې | او څوک چه تېرېږي | د حدونو دَ الله نه | پس هم دغه دي

کړي حدونه دي پس دَ دې نه تېر مه شئ او څوک چه دَ خدائ دَ حدونو نه وړاندې تېر شي نو هم دغه

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ

ظالمان | پس که چرې (دریم) طلاق ورکړو دَ ته | نو هغه به حلاله نه وي | دَ هغه دَ پاره دَ هغې نه پس

کسان ظالمان دي. نو که چرې خاوند ښځې له (دریم) طلاق هم ورکړو نو بیا دغه ښځه هغه ته نه حلالېږي تر څو چه

حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ

تر څو چه هغه نکاح وَ نه کړي | بل خاوند سره | بیا که چرې هغه هم دې له طلاق ورکړي | نو نشته گناه | په هغه دواړو

دَ بل خاوند سره نکاح وَ نه کړي. بیا که هغه (دویم خاوند هم) ورله طلاق ورکړي نو هیڅ باک نشته

اَنْ يَّتَرَاجَعَآ اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ

چه په خپل مینځ کښې رجوع وکړي | که هغوی ته یقین وي | چه هغوی دواړه به قائم وساتلے شي | حدونه | دَ الله

که دواړه (دوهمې ښځه خاوند) بیا یو ځائے شي، که دَ دواړو دا گمان وي چه دَ خدائے په مقرر کړو حدونو به اوسي؟

وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۰﴾

او دا | حدونه دي | دَ الله | هغه بیانوي دا | دَ هغه خلقو دَ پاره | چه پوهېږي

قائم پاتې شي او دا دَ خدائے مقرر کړي حدونه دي چه دَ پوهه خاوندانو ته ئې صفا صفا بیانوي.

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ

او هر کله چه | طلاق ورکړئ تاسو | ښځو ته | بیا هغوی ورسي | خپل عدت ته | نو اوساتئ هغوی

او هر کله چه تاسو ښځو ته طلاق ورکړئ او هغوی خپلې نیټې دَ عدت ته نزدې شي، نو هغوئ په عزت

بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۪ وَلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا

په نیکئ سره | یا پرېږدئ هغوی | دَ دستور مطابق | او مه حصاروئ هغوی | دَ تکلیف رسولو دَ پاره

سره حصارې کړئ او یا ئې په ښه طریقه رخصتې کړئ او دَ تنگولو په خاطر ئې مه حصاروئ.

لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا

چه تاسو سختي وکړئ | او څوک چه | وکړي | دا سے | نو بېشکه هغه ظلم وکړو | په خپل ځان | او مه نیسئ تاسو

دا زیاتې دے او څوک چه داسے کار وکړي هغه به په خپل ځان ظلم کوي او دَ الله دَ

اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ؗ وَّاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ

آیتونه | دَ الله | په ټوقو | او یاد کړئ | نعمت دَ الله | په خپلو ځانونو | او هغه څه

آیتونو نه لوبې مه جوړوئ او دَ الله نعمتونه یاد ساتئ کوم چه هغه په تاسو کړي دي. او دا هم یاد

اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ

چه نازل ئې کړل په تاسو | له کتاب نه | او له علم نه | چه نصیحت وکړي تاسو ته | په هغې

لرئ) چه هغه ستاسو دَ نصیحت دَ پاره کتاب او حکمت را نازل کړے دے.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۲۳۱﴾

او ووېرېږئ د الله نه | او پوهه شئ | چه | الله | په هر څیز باندې | ښه پوهېږي.

او د خدائے نه وېره کوئ (او خبر شئ) چه الله تعالیٰ په هر څه ډېر ښه پوهه دے.

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ

او هر کله چه طلاق ورکړئ تاسو | ښځو ته | او هغوی ورسیږي | خپلې نیټې (عدت) ته | پس مه منع کوئ هغوی

او هر کله چه تاسو ښځو له طلاق ورکړئ او هغوی خپل عدت پوره کړي نو د خپلو خاوندانو

اَنْ یَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَیْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ ذٰلِكَ

د نکاح کولو نه | خپلو (کېدونکو) خاوندانو سره | کله چه راضي شي هغوئ | په خپل مینځ کښې | په ښه طریقه | په دې سره

سره د بیا نکاح کولو نه ئې مه منع کوئ که چرې هغوی د دستور مطابق په خپل مینځ کښې راضي شي

یُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

نصیحت کولے شي | هغه چا ته | کوم چه وي | په تاسو کښې | ایمان لرونکي | په الله | او په ورځ د آخرت

په دې خبرو تاسو نه هغه چا ته نصیحت کولے شي چه هغه په الله او په آخرت باندې ایمان لري.

ذٰلِكُمْ اَزْكٰی لَكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۲﴾

دا تاسو د پاره پاکیزګي ده | او صفائي | او الله | پوهېږي | او تاسو | نه پوهېږئ.

دا تاسو د پاره ډېره غوره او پاکیزه طریقه ده، او الله په هر څه ښه پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

وَالْوَالِدٰتُ یُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَیْنِ كَامِلَیْنِ لِمَنْ

او میندې | ورکاردي په پئ ورکړي | خپل اولاد ته | دوه کاله | پوره | دا حکم هغه چا له دے

او (طلاقې شوې) میندې د خپل اولاد ته پوره دوه کاله تے ورکوي. کوم (پلاران)

اَرَادَ اَنْ یُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ وَعَلَی الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ

چه غواړي | پوره کول | د پیو (د تی ورکولو) موده | او په پلار باندې ده | د هغوی خوراک

چه د (اولاد د) تی موده پوره کول غواړي او د ماشوم په پلار باندې د دې ښځو

وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ

او جامه د هغوی | په ښه طریقه | تکلیف نه شي ورکولے | چا ته | مګر | د هغه د وس مطابق

ډوډۍ او جامه د رواج مطابق مقرر دي، هیچا له د خپل وس نه زیات تکلیف نه شي ورکولے

لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۗ

تکلیف دې نه شي ورکولے | مور ته | د هغې د بچي په وجه | او نه پلار ته | د هغه د بچي په وجه

نه دې مور ته ضرر ورسولے شي چه دا ستا څوک دے (او ته ئې ساته) او نه پلار ته چه دا ستا څوک دے (او ته ئې د مور وړې)

وَعَلَی الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا

او په وارث باندې (هم) | په شان د دې (نان نفقه) | بیا که چرې | وغواړي مور او پلار | تی نه خلاصول | د دواړو په رضامندۍ

او هم دا حکم د ماشوم په وارثانو باندې هم عائد کیږي. بیا که چرې په خپل مینځ کښې په رضامندۍ او

وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا

او په مشوره سره | نو (څه) ګناه نشته | په هغو دواړو | او که چیرې غواړئ تاسو | چه دائي دِ ونیسئ

او مشورې سره (د وخت نه وړاندې) د تي نه خلاصول غواړي نو هیڅ حرج نشته او که تاسو خپل اولاد له بله دائی

أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ

د خپل اولاد د پاره | پس نشته دے هیڅ ګناه | په تاسو | هر کله چه | وسپارئ تاسو | هغه څه چه ورکول منل کړي دي تاسو

(مرضعه) نیول غواړئ نو په دے کښې هم څه ګناه نشته شرط دا دے چه تاسو څه ورکول منل کړي دي هغه

بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ

د دستور مطابق | او ووېرېږئ | د الله نه | او پوهه شئ | چه | الله | هغه څه ته چه تاسو کوئ

د دستور مطابق هغوی له ورکوئ او د الله نه وېره ساتئ او خبر شئ چه الله ستاسو کارونه وینی

بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا

ښه ګورې | او کوم خلق چه | مړه شي | له تاسو نه | او پرېږدي | ښځې

ګوري ـ او په تاسو کښې چه څوک مړه شي ، او ښځې ترے نه پاتې شي

يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ

پکار دي چه انتظار وکړي | خپلو ځانونو ته | څلور | میاشتې | او لس ورځې | بیا هر کله چه | ورسیږي

هغوی دِ څلور میاشتې او لس ورځې انتظار کوي . نو هر کله چه نیټه

أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ

خپلې نیټې ته | نو (څه) ګناه نشته | په تاسو | په هغه څه کښې چه وکړل هغوی | په خپل حق کښې

پوره کړي ، نو په تاسو هیڅ ذمه واري نشته که هغوی د خپلو ځانونو په حقله په مناسب شرعي

بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

د دستور مطابق | او الله | د هغه څه نه | چه تاسو کوئ | ښه خبردار دے | او نشته ګناه | په تاسو

طریقه څه وکړل ، او الله ستاسو د هر کار نه خبر دے ـ او په دے کښې هم په تاسو څه ګناه

فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ

په هغې کښې | چه اشاره وکړه تاسو | په هغې سره | د نکاح | د هغو ښځو نه | یا پټ کړئ تاسو هغه

نشته که چیرے تاسو (د عدت دننه) دا سے ښځو ته اشارةً د نکاح خیال ظاهر کړئ ، یا په خپل زړه کښې

فِي أَنْفُسِكُمْ ۚ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِنْ

په خپلو زړونو کښې | الله ته علم دے | چه تاسو | به ضرور ذکر کوئ د هغې | لیکن

کښې (د نکاح خواهش) پټ وساتئ الله ته معلومه ده چه تاسو ته به د هغوی خیال ضرور راځي

لَا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلًا مَعْرُوفًا ۚ وَلَا تَعْزِمُوا

مه کوئ وعده (د نکاح) د هغوی سره پټه | مګر | دا چه وکړئ | خبره | غوره | او اراده مه کوئ

لیکن پټے وعدے ورسره مه کوئ ، که څه خبره ورسره کوئ نو په سمه طریقه کولے شئ او تر هغې د نکاح

عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ؕ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ

د عقد | د نکاح | ترهغه چه | ورسیږی | عدت | مقرره وخت پورې | او پوهه شئ | چه

ترلو اراده مه کوئ، ترڅو چه عدت پوره شوے نه وی، او پوهه شئ چه

اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

الله | پوهیږی | په هغه څه چه ستاسو په زړونو کښے دی | نو د هغه نه ویریږئ | او پوهه شئ | چه الله

الله ستاسو د زړونو په حال خبر دے، نو د هغه نه ویره کوئ. او خبر شئ چه الله

غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۳۵﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا ع ٣٠ / ١٤

بخښونکے | بردبار دے | نشته (څه) گناه | په تاسو | که چرے تاسو طلاق ورکړئ | ښځو ته | هر کله چه

بخښونکے بردبار دے. په تاسو څه گناه نشته که چرے تاسو ښځو ته د لاس وروړلو

لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۖۚ وَّمَتِّعُوْهُنَّ ۚ

تاسو هغوی ته لاس هم نه وی لگولے | او (نه) سو مقرر کړے وی | د هغوی د پاره | څه مهر | او هغوی ته څه سامان ورکړئ

یا د هغوئ مهر مقررولو نه وړاندې طلاق ورکړئ (په داسے صورت کښے) ناڅه مال متاع ورکړئ

عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ مَتَاعًا ۢ

په مالدار باندې | د خپل طاقت مطابق | او په تنگ دسته باندې | د خپل حیثیت مطابق | څه سامان

مالدار د د خپل حیثیت مطابق ورکړی او غریب د د خپل حیثیت مطابق په مناسب طریقه

بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۳۶﴾ وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ

د دستور مطابق | لازم دی | په نیکانو باندې | او که چرے | طلاق ورکړو تاسو هغوی ته

مال متاع ورکړئ نیکانو خلقو له داسے ضروری دی. او که د لاس وروړلو نه وړاندې

مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ

وړاندې له دے نه | چه لاس ورواوړے وی تاسو هغوی ته | او مقرر کړے وی تاسو | هغوی د پاره | مهر | نو نیمه

مو ښځے له طلاق ورکړو، او حق مهر مو ورله مقرر کړے وی نو نیم مهر

مَا فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَا الَّذِيْ بِيَدِهٖ

د هغه څه چه مقرر کړے وی تاسو | مگر | دا چه د بخښی ښځے | یا معاف کړی | هغه سړے چه | په لاس د هغه کښے

ادا کړئ، دا بیله خبره ده چه ښځه بخښنه وکړی (او مهر وانخلی) یا د کوم سړی په لاس کښے چه د نکاح غوټه ده

عُقْدَةُ النِّكَاحِ ؕ وَاَنْ تَعْفُوْٓا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ؕ وَلَا تَنْسَوُا

عقد | د نکاح دے | او چه بخښنه وکړئ تاسو | نو زیات نزدے ده | پرهیزگارئ ته | او مه هیروئ

هغه بخښنه وکړی (او زیات مال ورکړی) او که تاسو نارینه بخښنه وکړئ نو دا خبره تقوی ته زیاته نزدے ده او په خپل مینځ کښے

الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۷﴾ حٰفِظُوْا

احسان کول | په خپل مینځ کښے | بیشکه | الله | هغه څه ته | چه تاسو کوئ | ښه گوری | حفاظت کوئ

احسان کول مه هیروئ، بیشکه الله ستاسو هر کار ویني گوری. د مونځونو

عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾

دَ ټولو مونځونو | او دَ مینځنۍ مونځ | او ودریږئ | الله ته | په عاجزۍ سره.

حفاظت او پابندي کوئ او خصوصاً دَ مینځنۍ مونځ او الله ته په ډیر ادب ودریږئ.

فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ

بیا که چرې | ویریږئ | پس مونځ وکړئ پیاده | یا سواره | بیا چه کله | په امن شئ | نو یاد کړئ | الله

بیا که چرې تاسو (دَ دښمن) ویره وی (نو مونځ وکړئ) پیاده وی که په سورلئ. بیا هر کله چه تاسو امن حاصل شي نو

كَمَا عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٩﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ

لکه څنګه چه | ښودلی دی تاسو ته | هغه څه چه | تاسو پرې پوهه نه وئ | او هغه خلق چه | مړه شي

الله یاد کړئ څنګه ئې چه تاسو ته چل ښودلے دے په کوم چه تاسو مخکښې نه پوهیدئ. او کوم خلق چه له تاسو مړه

مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ۖۚ وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا

له تاسو نه | او پریږدی | (هغوی د) وصیت کوی | ښځې | خپلو ښځو د پاره | (د) خرځ

کیږی او ښځې ترے نه (کښې ے) پاتے کیږی، نو دَ خپلو ښځو په حقله د وصیت وکړی چه یو کال د ورته خرځ

اِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

یو کال پورے | بغیر (کور نه د) ویستلو | بیا که چرے هغوی خپله ووځی | نو نشته ګناه | په تاسو

اخراجات ورکیدے شي او د کور د نه شي ویستلے. که هغوی په خپله بهر ووځی نو د خپل ځان په حقله چه هغوی

فِيْ مَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ ۗ وَاللّٰهُ

په هغه کښې | چه هغوی وکړی | په خپل حق کښې | په مناسبه طریقه | او الله

په سمه شرعی طریقه هر څه کوی دَ هغې ذمه واری په تاسو نشته. او الله د اختیار خاوند دے

عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌ ۢ بِالْمَعْرُوْفِ ۗ حَقًّا

غالب | خاوند د حکمت دے | او طلاق شوو ښځو ته | خرځ (ورکول پکار دی) | دَ دستور مطابق | (دا) حق دے

او په هر حکم کښې حکمت لری. او طلاق شوو ښځو له په خپل مناسب څه نا څه ورکول په نیکانو باندې

عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٤١﴾ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ

په پرهیزګارانو | دغه شان | بیانوی | الله | تاسو د پاره | آیتونه خپل | چه تاسو

مقرر شوے حق دے. دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل حکمونه صفا صفا بیانوی امید دے چه تاسو به د

تَعْقِلُوْنَ ﴿٢٤٢﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ

ع ٣١ ١٧ ١٥

پوهه شئ | آیا نه دی کتلی تا | هغو خلقو ته | چه وتلی وو | دَ خپلو کورونو نه

عقل فکر نه کار واخلئ. (اے پیغمبره!) تا د هغه خلقو په حال غور فکر کړے دے چه د زرګونو په تعداد کښې د خپلو

وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ ۠ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ۫ ثُمَّ

او هغوی په زرګونو وو | دَ مرګ له ویرے نه | پس ووئیل | هغوی ته | الله | مړه شئ؟ | بیا

کورونو نه وتل څکه چه دَ مرګ نه ویریدل. نو خدائے هغوی ته حکم وکړو چه مړه شئ (نو هغوی مړه شول)

اَحۡيَاهُمۡ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ

ئې را ژوندي کړل | بېشکه | الله | د فضل خاوند دے | په خلقو | او لیکن | اکثر

نو بیائے ژوندي کړل ، بیشکه الله په خلقو ډیر مهربان دے ، ولے اکثر خلق

النَّاسِ لَا يَشۡكُرُوۡنَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَاتِلُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَاعۡلَمُوۡۤا

خلق | شکر نهٔ کوي | او جهاد وکړئ | د الله په لاره کښې | او پوهه شئ

د هغهٔ شکر نهٔ ادا کوي . او (اے مسلمانانو!) تاسو د الله په لاره کښې جهاد کوئ او دا یاد لرئ چه

اَنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَنۡ ذَا الَّذِىۡ يُقۡرِضُ اللّٰهَ قَرۡضًا حَسَنًا

چه | الله | اورېدونکے | پوهه دے | څوک دے | هغه کس چه | قرض ورکړي الله ته | قرض | ښهٔ

الله هرڅهٔ اورې او په هرڅهٔ پوهه دے . څوک دي چه الله له قرض حسنه ورکړي ،

فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضۡعَافًا كَثِيۡرَةً ‌ؕ وَاللّٰهُ يَقۡبِضُ وَيَبۡصُۜطُ وَاِلَيۡهِ

چه زیات کړي الله هغه اهغهٔ ته | په غبرګونو | ډیر و سره | او الله (روزي) تنګوي | او فراخوي | او د هغهٔ طرف ته

الله به ورله په څوڅو چنده د هغې بدله واپس ورکړي . او الله د چا روزي تنګوي او د چا زیاتوي او هغهٔ ته به

تُرۡجَعُوۡنَ ﴿٢٤٥﴾ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الۡمَلَاِ مِنۡۢ بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِ مُوۡسٰى‌ۘ

به ورګرځولے شئ | ایا تا نهٔ دي کتلي | یو ټولي ته | له بني اسرائیلو نه | پس له موسیٰ نه

تاسو ټول واپس کولے شئ . او تا په هغه واقعه هم غور فکر کړے چه د موسیٰ نه پس د بني اسرائیلو یو ټولي پېښه شوې وه

اِذۡ قَالُوۡا لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ابۡعَثۡ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلۡ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ‌ؕ

هر کله چه هغوي وويل | خپل پیغمبر ته | چه مقرر کړه | مونږ د پاره | یو بادشاه چه جنګ وکړو | په لاره د الله کښې

هر کله چه هغوي خپل نبي ته وويل چه مونږ له یو بادشاه مقرر کړه چه د الله په لاره کښې جهاد وکړو

قَالَ هَلۡ عَسَيۡتُمۡ اِنۡ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ الۡقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوۡا ‌ؕ قَالُوۡا

ورفرمائيل | ایا | نزدے یئ تاسو | دے ته چه که چرې فرض کړے شي په تاسو باندې | جنګ | نو جنګ به ونهٔ کړئ | دوي ويل هغوي

نبي ورته وويل چرته داسے ونهٔ شي چه جهاد درباندې فرض شي او بیا تاسوئے ونهٔ کړے شئ هغوي وويل

وَمَا لَنَاۤ اَلَّا نُقَاتِلَ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَقَدۡ اُخۡرِجۡنَا مِنۡ دِيَارِنَا

څهٔ شوي دي په مونږ | چه جنګ به ونهٔ کړو | د الله په لاره کښې | حال دا دے چه | مونږ وېستلے شوي یو | د خپلو کورونو نه

دا څنګه کیدے شي چه مونږ به د الله په لاره کښې جهاد نهٔ کوو سره د دے چه مونږ د خپلو کورونو نه وېستلے شو او د اولاد

وَاَبۡنَآٮِٕنَا ‌ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ الۡقِتَالُ تَوَلَّوۡا اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡهُمۡ‌ ؕ

او د خپلو ځامنو نه | بیا هر کله چه فرض کړے شو | په هغوي باندې | جهاد | نو هغوي مخ واړولو | سوا د لږو کسانو | د هغوي نه

نه جدا کړے شو . خو چه جهاد پرے فرض کړے شو نو د یو څو کسانو نه سوا نورو ټولو ورته شا کړه او تښتيدل

وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِالظّٰلِمِيۡنَ ﴿٢٤٦﴾ وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ اِنَّ اللّٰهَ قَدۡ بَعَثَ لَـكُمۡ

او الله | ښهٔ پوهه دے | په ظالمانو | او وويل | هغوي ته | د هغوي نبي | بېشکه الله | مقرر کړے دے | تاسو د پاره

او الله هم نافرمانه ښهٔ پېژني . او هغوي ته د هغوي نبي وويل ، چه الله طالوت ستاسو بادشاه

وقف لازم

طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْٓا اَنّٰى یَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَیْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ

طالوت | بادشاه ، هغوی ووئیل | څنګه کیږی شی | د ده | بادشاهی | په موږ دی | او موږ زیات حقدار یو

مقرر کړے دے ، دوی ووئے (هغې داځه وائے ؟) هغه څله په موږ بادشاهی کولے شی ؟ د هغه نه خو موږ زیات

بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ یُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ

د بادشاهی | له ده نه | او نه ده ورکړے شوے ده ته | فراخی | له مال نه | وفرمائیل | بیشکه الله | غوره کړے دے

د بادشاهی حقدار یو او هغه خو څه ډیر مالداره سړے هم نه دے . پیغمبر ورته وفرمائیل چه الله هغه ستاسو په

عَلَیْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِی الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ یُؤْتِیْ مُلْكَهٗ

په تاسو باندې | او زیاته ورکړې ده ده ته | فراخی | په علم کښې | او په بدن کښې | او الله | ورکوی | خپله بادشاهی

مقابله کښې غوره کړے دے او په علم او بدن دواړو کښې ئے برتری ورکړے ده . او د الله اختیار دے چه خپل حکومت

مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ﴿۲۴۷﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِیُّهُمْ اِنَّ

چا ته چه غواړی | او الله | خاوند د فراخه فضل دے | پوهه دے | او ووئیل | دوی ته | پیغمبر د دوی | بیشکه

چا ته غواړی هغه ته ئے سپارلی هغه د وسعتونو مالک او پوهه دے . او د هغوی پیغمبر هغوی ته ووئیل چه د (طالوت د)

اٰیَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ یَّاْتِیَكُمُ التَّابُوْتُ فِیْهِ سَكِیْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

نخښه | د هغه د حکومت | دا ده چه رابه شی تاسو ته | هغه صندوق | چه په هغې کښې | تسلی ده | ستاسو د رب طرف نه

حکومت نخښه دا ده چه هغه صندوق به درته (واپس) راشی چه په هغې کښې د الله له طرفه ستاسو د اطمینان سامان

وَبَقِیَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ

او باقی پاتے شوی څیزونه | په هغې کښې | کوم چه پریښودلی وو | د موسیٰ اولاد | او د هارونؑ اولاد | چه راپورته کوی به هغه

پروت دے او په کښې د موسیٰ او هارون علیهما السلام د اولاد پاتی شوی تبرکات پراته دی ، چه راوړی به

الْمَلٰٓىِٕكَةُ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۲۴۸﴾ فَلَمَّا

فرښتے | بیشکه | په دے کښې | (کافی) نخښه ده تاسو د پاره | که چرے یئ تاسو | باور کوونکی | پس هرکله چه

٣٢ ع ١٦

په ئے فرښتے ، دا ستاسو د پاره (د طالوت د بادشاهی) یوه څرګنده نخښه ده که تاسو په رښتیا مؤمنان یئ ، بیا هرکله چه

فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِیْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ

جدا شو | طالوت | د لښکرو سره | (نو) ووئیل | بیشکه | الله | ازمیښت کوونکے دے په تاسو | په یو دریاب سره

چه طالوت د لښکرو سره روان شو ، نو اعلان ئے وکړو چه الله د یو دریاب په ذریعه ستاسو ازمیښت کول غواړی

فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَیْسَ مِنِّیْ ۚ وَمَنْ لَّمْ یَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّیْۤ

پس کوم سړے چه وڅښی | له دے نه | پس هغه نه دے له ما نه | او څوک چه | و نه څکی هغه | پس بیشکه هغه له ما نه دے

څوک چه د هغې دریاب نه اوبه وڅښی هغه زما ملګرے نه دے . او څوک چه د هغه اوبه و نه څکی نو هغه زما ملګرے دے

اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِیَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِیْلًا

مګر | څوک چه | راواخلی | یو چونګ | په خپل لاس | پس وڅښلے هغوی | له هغې نه | مګر | لږ و کسانو

او که یو چونګ اوبه په لاس کښې راواخلی (او وڅښی نو خیر دے) نو د یو څو کسانو نه بغیر نورو ټولو ترے نه اوبه

مِّنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

له هغوی نه | بیا هر کله چه | تیر شول هغه دریاب نه | هغه (طالوت) | او مؤمنان | د هغه سره

د شپېلو . بیا هر کله چه طالوت او د هغه ایماندار ملګری د دریاب نه تیر شول ، نو هغوی

قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ

نو ووئیل هغوی | نشته دے | طاقت | زمونږ | نن ورځ | د مقابلے د جالوت | او د هغه د لښکرو | ووئیل هغه خلقو

ووئیل نن خو مونږ کښے د جالوت او د هغه د لښکرو سره د مقابلے کولو طاقت نشته . خو خوک چه په دے خبره

يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً

د کوموچه خیال وو | چه بیشکه هغوی | ملاقات کوونکی دی د الله سره | چه ډیر ځلے وړه | ټولۍ | غالب شوی دی | په لوئیو ټولو باندې

پوهه وو چه خدائے سره به مخامخ کیږی ، هغوی ووئیل چه ډیر ځله وړه ډله د الله په حکم سره په لویه

بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ

په حکم د الله | او الله | سره دے | د صابرانو | او هر کله چه | هغوی مخامخ شول | جالوت | او د هغوی لښکرو ته

ډله باندې غالبه شوے ده او الله د صابرانو ملګرے دے . او هر کله چه هغوی د جالوت او د هغه د لښکرو مقابلے ته

قَالُوْا رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا

نو وئے ووئیل اے زمونږ ربه | واچوه | زمونږ په زړونو کښے | صبر | او محکم کړه | قدمونه زمونږ | او غلبه راکړه مونږ ته

راووتل نو دعائے وغوښتله چه اے زمونږ ربه ! مونږ له ډیر صبر راکړه او زمونږ پښے کلکے کړه او د کافرانو په مقابله

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٥٠﴾ ؕ فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۫ؕ وَقَتَلَ

په | قوم | د کافرانو . | بیا شکست ورکړو هغوی کافرانو ته | په حکم د الله | او قتل کړو

کښے زمونږ امداد وکړه . نو هغوی د الله په حکم سره هغوی ته شکست ورکړو او داؤد علیه السلام

دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ

داؤد | جالوت لره | او ورکړه هغه ته الله | بادشاهی | او دانائی | او وئے ښوول هغه ته | له هغه څه نه چه هغه غوښتل

جالوت لره قتل کړو او الله داؤد علیه السلام له بادشاهی او حکمت ورکړو او څه چه ئے مناسب ګڼل هغه ورته ښوودل

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ

او که چرته نه وے دفع کول د الله | د خلقو | د یو بل نه | نو خامخا به تباه شوے وه | زمکه | لیکن

او که الله خلق د یو بل په لاس نه منع کولے ، نو د زمکے انتظام به خراب شوے وو لیکن

اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٥١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ

الله | فضل کوونکے دے | په عالمو باندې | دا | آیتونه دی | د الله

الله په ټول مخلوق ډیر مهربان دے (چه د امن انتظام ورله کوی) دا د الله آیتونه دی چه مونږ

نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٥٢﴾

چه تلاوت کوو مونږ ئے | تا ته | په رښتیا | او بیشکه ته | له رسولانو نه یئے .

ئے تا ته په حقه سره بیانوو او بیشکه ته د رسولانو نه یئے .

القرآن الکریم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مِنْهُمْ

دا | (ټول) رسولان | فضيلت ورکړے دے موږ | ځنو ته له هغوی نه | په ځنو باندې | ځنې له هغوی نه

دا پيغمبران داسے دی چه موږ هغوی له يو د بل نه اوچتے مرتبے ورکړے دی په هغوی کښے الله

مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ وَاٰتَيْنَا

هغه څوک دی چه ورسره خبرے کړے وے الله | او اوچت کړل الله | ځنے د هغوی | په درجو کښے | او ورکړلے موږ

چاسره خبرے کړی دی او چا لره (په بل شان) اوچتے مرتبے ورکړی دی او عيسیٰ ځوئے د مريم

عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

عيسیٰ ځوئے د مريمے ته | معجزے | او مدد ورکړو موږ هغه | په روح القدس سره | او که چرے غوښتے الله

ته موږ (په اخر کښے) ښکاره معجزے ورکړے او د جبرائيل په ذريعه موږ هغه مضبوط کړو - او که الله ته منظور وے

مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ

نو په خپل مينځ کښے به نه جنګيدل هغه خلق | چه د هغوی نه پس وو | پس له هغے نه چه | راغلل به هغوی ته

نو د هغوی نه پس خلقو به د داسے ښکاره نخښو د راتلو نه پس په کور کښے جنګونه نه کول (خو الله په چا

الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ

(روښانه) دليلونه | ليکن | اختلاف وکړو هغوی | پس ځنے له هغوی نه هغه خلق وو چه | ايمان ئے راوړو | او ځنے له هغوی نه هغه کسان وو چه کفر ئے وکړو

جبر نه کوی) نو هغوی جدا جدا شول، په هغوی کښے ځنے خو په ايمان قائم پاتے شول او ځنو کفر اختيار کړو

ع ٣٣ ٥ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۫ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿٢٥٣﴾

او که چرے غوښتے | الله | نو په خپل مينځ کښے به نه جنګيدل | ليکن | الله | کوی | څه چه غواړی ـ

او که چرے الله غوښتے نو (دا خلق به) د يو بل سره نه جنګيدل مګر الله چه څه کول غواړی هغه کوی ـ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ

اے مؤمنانو ! | خرچ کړئ (د الله په لاره کښے) | د هغه مال نه چه ورکړے دے موږ تاسو ته | وړاندے د هغے نه

اے مؤمنانو ! موږ چه کوم مال متاع درکړے دے د هغے نه خيراتونه ورکړئ وړاندے د دے

اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ

چه راشی | (هغه) ورځ چه نه به خرڅول او اخستل وی | په هغے کښے | او نه دوستی | او نه سفارش

نه چه هغه ورځ راشی چه نه به په کښے د مال بيعه کيږی، نه به دوستی پالله کيږی او نه به سفارش چليږی.

وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٥٤﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَيُّ

او | کافران | هم دوی | ظالمان دی | الله | نشته دے هيڅ معبود | مګر هم هغه دے | ژوندے دے

او ظالمان هم هغه خلق دی چه کفر ئے غوره کړے دے. (اے خلقو!) الله هغه ذات دے د کوم نه سوا چه بل معبود نشته

الْقَيُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ۗ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

د ټولو قائموونکے دے | نه نيسی هغه | پرکالی | او نه | خوب | هم د هغه دے | څه چه | په اسمانونو کښے دی

هغه تل ژوندے او قائم پاتے کيدونکے دے، نه په هغه پرکالی راځی او نه خوب ـ د اسمانونو او د زمکے ټول خيزونه

وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ

او څه چه په زمکه کښې دی | څوک دے | هغه چه | سفارش وکړی | هغه ته | مګر | د هغه په اجازت

د هغه (ملکیت) دے ، څوک دی ؟ چه د هغه په دلبار کښې به بے اجازته (د چا) سفارش وکړی ،

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ

هغه پوهیږی | په هغه څه چه د هغوی د وړاندې دی | او څه چه د هغوی وروستو دی | او هغوی احاطه نه شی کولے | د څه څیز

پوهه دے په هغه څیزونو چه د خلقو د وړاندې دی او په هغه چه د خلقو (د نظره) شاته دی او هغوی د هغه د معلوماتو نه په هیڅ

مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۖ

د هغه د علم نه | مګر څه چه هغه وغواړی | راګیر کړی دی | کرسی د هغه | آسمانونه | او زمکه

څیز باندې احاطه نه شی کولے مګر په هغه چه الله وغواړی ، د هغه حکومت په آسمانونو او زمکه باندې خور دے

وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ

او نه ستړے کوی هغه | حفاظت د دې دواړو | او هغه دے | د اوچت درجې خاوند | ډیر لوئے | نشته دے زبردستی | په دین کښې

او د دې دواړو په ساتنه هغه هیڅ کله نه ستړے کیږی او هغه اوچت او لوئے ذات دے. په دین (قبلولو) کښې هیڅ قسم له

قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ

بیشکه ښکاره شوې ده | هدایت | د ګمراهئ نه | نو څوک چه | ونه مني | د شیطان | او ایمان راوړی

زور زیاتے نشته ، سمے خبرې د غلطو نه جدا او ښکاره شوې دی ، نو څوک چه د شیطان نه منکر شی او په الله ایمان

بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ

په الله | نو بیشکه | هغه نیولے ده | کړئ | مضبوطه | چه نشته دے ماتیدل د هغې | او الله

راوړی ، نو هغه په حقیقت کښې یو داسے مضبوطه کړئ ته لاس واچولو چه هیڅ کله د هغې ماتیدل نشته او الله

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾ اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ

اوریدونکے | پوهه دے | الله | دوست دے | د هغه خلقو | چه ایمان راوړی | راوباسی هغوی | د تیارو نه

هر څه اوری او په هر څه پوهه دے . الله د مؤمنانو ملګرے دے چه د (کفر د) تیارو نه ئے (د ایمان) رڼا

إِلَى النُّورِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ

رڼا ته | او کوم چه | کافران دی | د هغوی دوستان | شیطانان دی | هغه هغوی راوباسی

ته راوباسی ، او د کافرانو دوستان هغه شیطانان دی چه د (ایمان) رڼا نه ئے د (کفر)

مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ ۗ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا

د رڼا نه | تیارو طرف ته | هم دا خلق | اوسیدونکی | د اور دی | هم هغوی به | په دے کښې

تیارو ته وباسی ، هم دغه خلق دوزخیان دی ، او تل به په دوزخ کښې

خَالِدُونَ ﴿٢٥٧﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ

همیشه وی | آیا نه دی کتلی تا | هغه کس ته کوم چه | جګړه کړے وه | ابراهیم سره | د هغه د رب په حقله

پراته وی . (اے پیغمبره!) تا د هغه چا په قصه غور نه دے کړے چه د ابراهیم سره ئے د خدائے په حقله بحث کړے وو

ع ٣٤ ٢

أَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَ

حکم چه ورکړی ؤ هغهٔ ته الله | حکومت | هر کله چه ووئیل | ابراهیم | زما ربّ | هغه دے چه | ژوندی کوی | او

حکم چه الله هغهٔ ته له بادشاهی ورکړې وه هر کله چه حضرت ابراهیم ورته ووئیل چه زما رب داهغه دے چه ژوندی

يُمِيْتُ ۙ قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ۗ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ

مړه کوی | نو هغهٔ ووئیل | زهٔ هم ژوندی کوم | او مړه کوم | وفرمائیل | ابراهیم | پس بیشکه | الله

کول او مړه کول کوی هغهٔ ووئیل چه ژوندی کول او مړه کول خو زهٔ هم کوم، ابراهیم ورته ووئیل چه الله هغه ذات

يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ

راخیژوی | نمر | د مشرق نه | پس راوخیژوه هغه | د مغرب نه | نو حیران شو

دے چه نمر د مشرق د طرف نه راخیژوی نو (بنده) ته ئے د مغرب د طرف نه راوخیژوه نو په دې خبره

الَّذِيْ كَفَرَ ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٥٨﴾ اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ

هغه | کافر | او الله | لار نهٔ ښائی | هغه خلقو ته | (چه) ظالمان دی | یا لکه هغه سړے چه | تیر شو

هغه کافر حیران پاتې شو او الله ظالمانو ته د سمې لارې هدایت نهٔ کوی. یا تاسو هغه سړی په واقعه غور وکړئ د

عَلٰى قَرْيَةٍ وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ

په یو کلی باندې | او هغه پریوتے ؤو | په چتونو خپلو | هغهٔ ووئیل | څنګه به ژوندے کړی | دا

کړے) چه په یو (تباه شوی) کلی باندې تیر شو چه چتونو ئے پر مخه راپریوتی ؤو نو دے ووئیل چه الله تعالیٰ به دا تباه شوی

اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ

الله | پس له مرګ کیدلو د دې نه | بیا هغهٔ له مرګ ورکړو الله | تر سل کاله | بیا دوباره ئے ژوندے کړو هغه

کلی (مړی) د دوی د مرګ نه پس بیا څنګه ژوندی کوی پس الله تعالیٰ هغهٔ له تر سلو کالو دپاره مرګ ورکړو، بیا ئے ژوندے کړو.

قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۗ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۗ قَالَ بَلْ

ووئیل الله | څومره موده تیره کړې تا؟ | هغهٔ ووئیل | ما موده تیره کړه | یوه ورځ | یا څهٔ حصه | د ورځې | وفرمائیل الله | بلکه

ورته ووئیل چه څومره موده دې تیره کړې؟ دهٔ ووئیل یوه ورځ یا د دې نه څهٔ کم. الله ورته وفرمائیل

لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ

تا موده تیره کړه | سل | کاله | پس وګوره | خپل خوراک ته | او خپلو څښلو ته | چه نهٔ دی خرابه شوی

(چه تا) بلکه تهٔ سل کاله پروت وې. اوس د خپل خوراک څښاک سامان ته وګوره چه خراب شوے نهٔ دے

وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ

او وګوره | خپل خر ته | او چه موږ جوړه کړو تا | نخښه | خلقو دپاره | او وګوره

او خپل (د سورلۍ) خر ته وګوره (چه څنګه خاورې شوے دے) او چه موږ تا د خلقو دپاره نخښه وګرځوو او د خرے هډوکو

اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ۗ فَلَمَّا

هډوکو ته | څنګه | یو ځائے کوو هغه | بیا | اغوندو ورباندې | غوښه | پس هر کله چه

ته وګوره، چه څنګه ئے یو ځائے کوو (او) بیا څنګه ورته غوښه اغوندو او نو هر کله چه

تَبَيَّنَ لَهٗ قَالَ اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿٢٥٩﴾

واضح شوه | هغه ته | نو وُ یے ویٔیل | زه پوهیږم | چه الله | په هر څیز باندے | قادر دے۔

حقیقت ورته ښکاره شو، نو وُئے ویٔیل زهٔ اوس ډیر ښهٔ پوهه شوم چه الله په هر څهٔ قدرت لري۔

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِیْ كَیْفَ تُحْیِ الْمَوْتٰى قَالَ

او هر کله چه وُ ویٔیل | ابراهیمؑ | اے زما ربه | وُ ښایه ماته | چه څنګه به ژوندی کوے ته | مړی | وُ ویٔیل (الله)

او (هغه واقعه هم یاده لره) چه ابراهیمؑ وُ ویٔیل اے زما ربه! ماته وُ ښایه چه ته مړی څنګه ژوندی کوے، الله وُ فرمایٔیل

اَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّیَطْمَىٕنَّ قَلْبِیْ قَالَ فَخُذْ

آیا ستا یقین نشته؟ | وُ ویٔیل | ولے نه! | لیکن | د پاره د دے چه زما د زړهٔ تسلی وُ شی | وُ فرمایٔیل | نو وُ نیسه

ولے ستا باور نشته؟ هغهٔ وُ ویٔیل باور هم شته خو د زړهٔ اطمینان غواړم ۔ الله ورته وُ فرمایٔیل (ښه ده) نو

اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّیْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَیْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ

څلور | له مارغانو نه | پس بلد کړه هغوی | د ځان سره | بیا کیږده | په هر غر باندے

څلور مارغان راوُ نیسه او د ځان سره ئے بلد کړه بیا (هغه ذبح کړه او) د هغوی یوه یوه ټوټه په هر

مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ یَاْتِیْنَكَ سَعْیًا وَاعْلَمْ اَنَّ

د هغوی نه | یوه برخه | بیا | آواز وُ کړه هغوی ته | نو را به شی هغوی تاته | په منډه | او پوهه شه | چه

غر باندے کیږده ، بیائے ځان ته راوُ بله نو په منډه به درله راشی، او پوهه شه چه الله د

اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ ﴿٢٦٠﴾ مَثَلُ الَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ ع ٣٥ ٣

الله | غالب | د حکمت خاوند دے | مثال | د هغو خلقو | کوم چه خرچ کوی | مالونه خپل | په لار کښے

اختیار او د حکمت خاوند دے۔ د هغو خلقو مثال چه خپل مالونه د الله په لار کښے خیرات

اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِیْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ

د الله | (دانے ئے) لکه چه | یوه دانه | زرغون کړی | اووهٔ | وږی | په هر وږی کښے

کوی ، د هغه دانے په شان دے چه اووهٔ وږی زرغون کړی ، په هر وږی کښے سل

مِّائَةُ حَبَّةٍ وَاللّٰهُ یُضٰعِفُ لِمَنْ یَّشَآءُ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ﴿٢٦١﴾

سل | دانے وی | او الله | زیاتوی | چا د پاره چه غواړی | او الله | فراخئی والا | دانا دے

دانے وی ۔ د غسے الله چه چا له غواړی نو لیږ عمل ورله په څو څو چنده کوی او الله وسعتونو والا او لوئے علم والا

اَلَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا یُتْبِعُوْنَ

کوم خلق چه | لګوی | خپل مالونه | په لاره کښے | د الله | بیا | نهٔ رسوی (تکلیف)

دے۔ څوک چه خپل مالونه د الله په لاره کښے خیرات کوی ، بیا په خپله نفقه پسے یادګیرنه

مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى لَّهُمْ اَجْرُهُمْ

د لګولو (نه پس) | په احسان کولو | او نهٔ ضرر (رسوی) | د هغوی د پاره دے | د هغوی ثواب

نهٔ کوی او نهٔ آزار رسوی ، د هغوی اجر خپل خدائے سره

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٦٢﴾ قَوْلٌ

دَ هغوی دَ رب سره | او نهٔ به څهٔ ویره وي | په هغوی | او نهٔ به | هغوی | غمژن وي | خبره

مقرر دے او نهٔ هغوی له څهٔ خطره شته او نهٔ به چرے غمژن وي. (فقیرته) خوږه

مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ اَذًى ۗ وَاللّٰهُ

سوره کول | او معاف کول | ښهٔ دي | دَ هغه خیرات نه | چه دَ هغے نه پس وي | ځـه کول | او الله

خبره کول (او په نامناسبه خبره) معاف کول دَ هغے صدقے نه ښهٔ دي چه ورپسے (دَ یادګیرنے) آزار وي او الله

غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿٢٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ

بے نیازه | بُرد بار دے | اے | مؤمنانو ! | مهٔ ضائع کوئ | خپلے صدقے

بے حاجته او صابره دے. اے مؤمنانو ! تاسو خپلے صدقے په زباتولو او تکلیف رسولو

بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِيْ يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ

په یادګیرنے | او تکلیف رسولو باندې | په شان دَ هغه چا | چه خرچ کوي | مال خپل | دَ پاره دَ ښودلو | خلقو ته

باندې مهٔ خرابوئ. لکه دَ هغه چا په شان چه خپل مالونه دَ نوم دَ پاره لګوي.

وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۗ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ

او ایمان نهٔ لري | په الله | او په ورځ | دَ آخرت | پس دَ هغهٔ مثال | (داسے دے) لکه چه | صفا کانړے

او نهٔ په خدائے ایمان لري او نهٔ په ورځ دَ آخرت. دَ هغهٔ (دَ خیرات) مثال دَ هغے هوار ګټ دے.

عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ۗ

چه په هغے باندې (پرته) وي | خاوره | بیا وُ وریږي په هغے باندې | تیز باران | پس پریږدي هغه | بالکل صفا

چه دَ پاسه پرے خاوره پرته وي، دَ تیز باران شیبه پرے راشي، او هوار صفا ئے پریږدي.

لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

نهٔ شي حاصلولے هغه | څهٔ (ثواب) | دَ هغه څهٔ | چه هغهٔ وُکړو | او الله | هدایت نهٔ کوي | قوم

(دغه شان) هغوئ به دَ هغوی دَ ګټے نه هیڅ په لاس نهٔ ورځي، او الله ناشکري کوونکو ته هدایت

الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ

دَ کافرانو ته | او مثال | دَ هغو خلقو چه | خرچ کوي | خپل مالونه | دَ پاره دَ طلب | دَ رضامندئ

نهٔ کوي. او دَ هغو خلقو مثال چه خپل مالونه دَ الله دَ رضا حاصلولو او زړونو ته

اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا

دَ الله | او دَ پاره دَ ټینګولو | دَ خپلو زړونو | (داسے دے) لکه چه | یو باغ (دے) | په اوچته زمکه | چه وُ رسیږي هغے ته

دَ تقویت رسولو دَ پاره خرچ کوي، دَ هغه باغ په شان دے چه په یوه لوړه زمکه لګیدلے وي

وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ

تیز باران | پس وُرکړې ئے میوے | غبرګے | پس که چرے | وُ نهٔ رسیږي هغے ته | تیز باران

دَ شیبو باران پرے وُشي نو دوه چنده میوه ورکوي او که چرے دَ شیبو باران پرے وُ نهٔ شي

فَطَلٌّ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٦٥﴾ اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ

نو پونه (کافي ده) | او الله | څه چه | کوئ تاسو | ګوري | ايا خوښوي | په تاسو کښې څوک

نو کم نه کم پرښه خوړې پرېوځي او الله ستاسو کارونه وينې ګوري ۔ ايا په تاسو کښې به د چا دا خوښه شي

اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

دا چه وي | د هغهٔ يو باغ | د کجورو | او د انګورو | چه بهيږي | د هغې نه لاندې

چه د هغهٔ يو باغ وي د کجورو او د انګورو چه د هغې لاندې نهرونه

الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ

نهرونه | د هغهٔ د پاره وي په هغې کښې | هر قسم | ميوې | او رسيدلې وي هغهٔ ته بوډا والے | او د هغهٔ اولاد وي

بهيږي ، او هر قسم ميوې ئې نيولې وي ، او دے پخپله بوډا وي او دا ړه د اولاد ماشوما

ضُعَفَآءُ ۖ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ۗ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ

کمزوري | پس ورسيده هغې ته | سيلۍ | چه په هغې کښې وي | اور | پس هغه وسوزي | دغه شان | بيانوي

ځامن ئې وي بيا (ناڅاپه) تيزه هوا و چليږي چه په هغې کښې اور وي او (د هغهٔ) باغ وسوزي لا پيره شي دغه شان

اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢٦٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ع ٣٦

الله | تاسو د پاره | ايتونه | د پاره د دے چه تاسو | فکر وکړئ | اے | مؤمنانو !

الله تاسو ته خپل قدرتونه ښائي چه تاسو په کښې فکر وکړئ ۔ اے مومنانو !

اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ

خرچ کړئ | د پاکيزه څيزونو نه | چه ګټلي دي تاسو | او د هغې نه چه | رابيستلي دي مونږ | تاسو د پاره

(د الله په لار کښې) د خپلې حلالې ګټې نه او د هغه (حلالو) څيزونو نه کوم چه مونږ تاسو د پاره د زمکې نه

مِّنَ الْاَرْضِ ۠ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ

له زمکې نه | او اراده مه کوئ | د ردي څيز | (چه) د هغې نه | خرچ کړئ | او نه يئ تاسو

پيدا کړي دي خرچ کړئ او دا سے مه کوئ چه د ناکاره مال نه خيرات ورکوئ باسئ حالانکه تاسو پخپله

بِاٰخِذِيْهِ اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ

اخستونکي د هغې | مګر | دا چه | تاسو سترګې پټې کړئ | په هغې کښې | او پوهه شئ | چه | الله | بے نيازه

د هغې اخستو ته تيار نه يئ مګر هله چه سترګې پرے پټې کړئ او پوهه شئ چه الله بے نيازه او په هر

حَمِيْدٌ ﴿٢٦٧﴾ اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ ۚ

د تعريف لائق دے | شيطان | وعده کوي تاسو سره | د لاس تنګيا | او حکم کوي تاسو ته | د بے حيائۍ

صفت ستائيلے شوے دے ۔ شيطان تاسو د نيستۍ نه ويروي او د ناکاره کارونو حکم درته کوي

وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ

او الله | وعده کوي تاسو سره | د خپلې بخښنې | او د فضل | او الله | د فراخۍ خاوند

او الله درسره د بخښنې او مهربانۍ وعده کوي ، او هغه د فراخۍ مالک دے

عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ

دانائي | ورکړے شي | او چاته چه | چاته چه ئې غواړي | پوهه | ورکوي | پوهه دے

او پوهه دے، چاته چه غواړي نو هغه ته حکمت ورکوي ، او چا ته چه حکمت ورکړے شي

فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾

بیشکه ورکړے شو هغه ته | خیر | ډیر | او نصیحت نه قبلوي | مګر | عقلمند خلق

نو هغه ته ډیر لوئے خیر ورکړے شو ۔ او فقط د عقل خاوندان د دے خبرو نه سبق اخلي ۔

وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُمْ مِنْ نَذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ ۗ

او هغه څه چه ورکوئ تاسو | له څه خیرات نه | یا د منئ تاسو | څه نذر | نو بیشکه | الله | پوهه دے په هغې

او هر څه خیرات چه تاسو کوئ یا هر څه منځته چه تاسو کوئ نو هغه الله ته معلوم دے ۔

وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۖ

او نشته دے د ظالمانو | هیڅوک مددګار | که چرے تاسو په ښکاره ورکوئ | خیرات | نو (هم) ښه خبره ده

او د ظالمانو هیڅوک مددګار نشته ، که تاسو چیرے صدقے ښکاره ورکوئ نو دا هم ښه خبره ده

وَإِنْ تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ

او که چرے تاسو هغه پټوئ | او ورکوئ ئے | فقیرانو ته | نو هغه | غوره دے تاسو د پاره | او لرے به کړي | تاسو نه

او که پټ په پرده کښے ئے فقیرانو له ورکوئ ، نو دا ډیره بهتره ده او الله به ستاسو ډیر

مِنْ سَيِّئَاتِكُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾ لَيْسَ عَلَيْكَ

څه ګناهونه ستاسو | او الله | د هغې نه چه تاسو کوئ | ښه خبردار دے | نشته دے | ستا په ذمه

ګناهونه معاف کړي او الله ستاسو په عملونو ښه پوهه دے ۔ خلقو ته د هدایت ورکول

هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۗ وَمَا تُنْفِقُوا

د هغوي په لاره راوستل | لیکن | الله | هدایت کوي | چاته چه ئې غواړي | او هغه څه چه | ورکوئ ئے تاسو

ذمه داري په تا نه ده ، بلکه الله چه چا ته غواړي هغه ته هدایت کوي ۔ او تاسو هر څه چه خیرات

مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنْفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنْفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ ۚ

د مال نه | (هغه) هم د خپل ځان د پاره (کوئ) | او نه خرڅ کوئ تاسو | مګر | د غوښتلو د پاره | د الله رضا

کوئ، نو د خپلے ښیګړے د پاره ئے کوئ ۔ او دا خیراتونه خو تاسو ځکه کوئ چه الله تعالیٰ درنه راضي شي

وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾

او څه چه | تاسو خرڅ کوئ | د مال نه | پوره به درکړے شي | تاسو ته | او په تاسو باندې ظلم و نه کړے شي ۔

او څه چه تاسو خیرات کوئ هغه به درته (په دنیا او اخرت کښے) پوره پوره واپس درکړے شي او په تاسو به ظلم نه شي کولے

لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

(دا خیرات) د هغه فقیرانو د پاره دے کوم چه | بند کړے شوي دي | په لاره کښے | د الله

دا (خیراتونه) د هغه فقیرانو حق دے چه د الله تعالیٰ په لاره کښے ګیر شوي دي

لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ

طاقت نه لري | د سفر کولو | په زمکه کښې | ګمان کوي په هغوی باندې | ناواقف | مالدار

(د کاروبار د پاره) چرته تلے راتلے نه شي. ناخبره پرے د سوال نه کولو په وجه د مالدارو

مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ

د سوال نه د بچ کیدو په وجه | ته پیژندے شے هغوی | د هغوی د علامو نه | هغوی سوال نه کوي | د خلقو نه

ګمان کوي ، ته د دوی د بشرے نه اصلي حال معلومولے شے د خلقو نه په رانښتلو سره سوال نه

إِلْحَافًا وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ الَّذِينَ

په نښتلو سره | او څه چه ورکوئ تاسو | د مال نه | پس بیشکه | الله | په هغې باندې | پوهه دے | هغه خلق چه

نه کوي ، او تاسو چه هر څه مال خیرات کوئ نو الله په هغې باندې ښه خبردے. څوک چه

يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ

خرڅ کوي | خپل مالونه | د شپے | او ورځے | په پټه | او په ښکاره | پس هغوی د پاره

خپل مالونه د شپے او ورځے پټ او ښکاره خیرات کوي ، نو د هغوی

أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

د هغوی اجر دے | د هغوی د رب سره | او نشته دے ویره | په هغوی باندې | او نه به هغوی غمژن شي.

اجر د هغوی د رب سره مقرر دے او نه به پرے چرے ویره راځي او نه به غمژن کیږي.

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي

هغه خلق چه | خوري | سود | هغوی به راپا نه څي | مګر | لکه څنګه | چه راپاڅي | هغه کس

څوک چه سود خوري هغوی به نه پاسي خو د هغه چا په شان چه شیطان په

يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا

چه لیونے کړے وي هغه | شیطان | لاس لګولو سره | دا | په دے وجه چه | دوئیل هغوی | بیشکه چه

لاس لګولو سره لیونے کړے وي. دا ځکه چه هغوی وائي چه بیعه (خرڅول) د

الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا

سوداګري | په شان | د سود دي | او حالانکه حلال کړه | الله | سوداګري | او حرام کړے دے | سود

سود په شان ده او دا عجیبه ده چه الله بیعه حلاله کړے ده او سود ئے حرام کړے دے

فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا

بیا چا ته چه ورسیده | نصیحت | د خپل رب د طرف نه | پس هغه منع شو | نو هغه د پاره دي | کوم چه

نو چا ته چه د خپل رب د طرف نه نصیحت راغلو او هغه (د سود اخستلو نه) لاس واخستو نو تیر شوي

سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ

تیر شول | او د هغه معامله | سپارلے شوے ده الله ته | او څوک چه | بیا (سود واخلي) | نو هم هغه دي

(سود) ورته معاف شو او د هغه معامله الله ته وسپارلے شوه او چا چه بیا سودي لین دین شروع کړو نو هم هغه

أَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي

دوزخیان | چه هغوی به همیشه وی | بربادوی الله | سود لره | او ډیروی

دوزخیان دی چه همیشه به په کښې پراته وی الله سود بربادوی او صدقې

الصَّدَقٰتِ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا

صدقې | او الله | نه خوښوی | هر | ناشکره | ګناهګار | بیشکه | هغو خلقو چه ایمان راوړو

زیاتوی او الله هیڅ ناشکره او بې عمله بنده نه خوښوی. هغه خلق چه ایمان راوړی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ

او عملونه ئې وکړل | نیک | او قائم ئې کړو | مونځ | او ورئې کړو | زکوٰة | د هغوی د پاره

او نیک کارونه کوی ، او د مونځ پابندی ساتی ، او زکوٰة ورکوی ، نو د هغوی

أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

د هغوی اجر | د هغوی د رب سره | او نشته دے | ویره په هغوی | او نه به هغوی غمژن شی.

اجر بیشکه خپل رب سره پروت دے ، نه به په هغوی هیڅ قسم له ویره راځی او نه به غمژن وی

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا إِنْ

اے د ایمان خاوندانو! | او ویریږئ د الله نه | او پریږدئ څه چه باقی پاتے دی | د سود نه | که چرے

اے مؤمنانو ! د الله نه ووېریږئ او باقی پاتے سود ونه پریږدئ ، که چرے

كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللّٰهِ

تاسو یئ | مؤمنان | بیا که چرے | ونه کړو تاسو دا کار | نو تیار شئ | جګړے ته | د الله

تاسو په رښتیا مؤمنان یئ. او که دا سے مو ونه کړل نو خبر شئ چه د الله او د هغه د رسول د اړخ نه

وَرَسُولِهٖ ۚ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوٰلِكُمْ ۚ لَا تَظْلِمُونَ

او د هغه د رسول سره | او که چرے تاسو توبه وکړئ | نو تاسو د پاره دی | اصل | مالونه ستاسو | نه به ظلم کوئ تاسو

تاسو ته د جنګ اعلان وشو. او که چرے تاسو (هنع شئ او) توبه وباسئ نو خپل اصلی رقم ستاسو حق دے نه ظلم کوئ

وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلٰى مَيْسَرَةٍ ۚ

او نه به ظلم کیږی په تاسو | او که چرے | دی هغه | تنګسیته | نو مهلت ورکول پکار دی | تر غنی کیدو پورے

او نه ظلم زغمئ. او که د قرض دار لاس تنګ وی ، نو د لاس ارتیدو پورے ورته وکړئ

وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ وَاتَّقُوا

او که چرے صدقه وکړئ | غوره ده | تاسو له | که چرے | یئ تاسو | پوهیدونکی | او ووېریږئ

او که چرے قرضه معاف کړئ نو دا تاسو د پاره غوره ده که تاسو پوهیږئ. او د هغې ورځې نه

يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللّٰهِ ۖ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ

(د هغې) ورځې نه | چه بیرته به ورګرځولی شئ | په هغې کښې | الله طرف ته | بیا | به پوره ورکړے شی | هر یو کس ته

ویره وکړئ چه الله ته به واپس (مخامخ) کیږئ. بیا به هر چا ته د خپل کار

مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ

چه څه هغه کړي وي | او په هغوی به | ظلم نه شي کولے | اے د ایمان خاوندانو! | هر کله چه معامله کوئ د یو بل سره

(بدله) پوره پوره ورکولے شي او هيڅ زياتے به پرے نه کيږي. اے مؤمنانو! هر کله چه تاسو تر يو مقرر

بِدَيْنٍ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ ۭ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ

د قرض | تر نيټے | مقرر دے پوره | نو وليکئ هغه | او پکار دي چه وليکي | ستاسو په مينځ کښے | ليکونکے

نيټے پورے د قرض لين دين کوئ، نو هغه ليکئ. او ستاسو په مينځ کښے دِ يو ليکوال په انصاف

بِالْعَدْلِ ۠ وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ

په انصاف سره | او انکار دِ نه کوي | کاتب | د ليکلو نه | لکه څنګه چه | ښودلے دے هغه ته الله | پس پکار دی چه ولیکل وي

سره ليکل وکړي. او ليکونکے دِ د ليکلو نه انکار نه کوي لکه څنګه چه الله ورته ښودنه کړے ده هغسے دِ وليکي

وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ

او املا دِ کوي | هغه بنده | په کوم چه | قرض دے | او ويريږي دِ | د الله نه | چه د هغه رب دے

او عبارت دِ ورته هغه (قرضدار) وائي د چا په ذمه چه قرض (حق) دے او هغه دِ د الله نه ويره وکړي چه د هغه رب دے

وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـــًٔا ۭ فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ

او نه دِ کموي | د هغے نه څه څيز | بيا که چرے وي | هغه څوک | چه پرے | قرض دے

او په معامله کښے دِ هيڅ کے نه کوي، هو! که چرے هغه څوک د چا په ذمه چه حق (قرض) دے

سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ

بے عقله | يا | کمزورے | يا طاقت نه لري | د املا ورکولو | پس املا دِ وائي

نادان يا کمزورے (ماشوم يا بوډا) وي يا ليکوال ته په خپله سم عبارت نه شي ويلے، نو د هغه واکدار دِ ورته

وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ۭ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ

واکدار د هغه | په انصاف سره | او ګواهان ونيسئ | دوه ګواهان | له خپلو سړو نه

په انصاف سره ښودنه وکړي. او په خپلو سړو کښے پورے دوه تنه (عادل) ګواهان ونيسئ

فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ

بيا که چرے نه وي | دوه سړي | نو يو سړے | او دوه ښځے | له هغه کسانو نه چه تاسو پرے رضامند يئ

او که دوه تنه سړي نه وي، نو يو سړے او دوه ښځے دِ شي کوم چه د ګواهئ د پاره ستاسو

مِنَ الشُّهَدَاۗءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا

له ګواهانو نه | د پاره د دے که چرے هيره کړي | يوه په هغوی کښے | نو ياد به کړي | يوه د هغوی نه

خوښ وي، ځکه چه که د يوے ښځے نه (ګواهي) هيره شي، نو يوه به ئے بله ته

الْاُخْرٰى ۭ وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَاۗءُ اِذَا مَا دُعُوْا ۭ وَلَا تَسْـَٔـمُوْٓا

دويمے ته | او نه دِ انکار کوي | ګواهان | په کوم وخت کښے چه راوبللے شي | او سستي مه کوئ

را ياده وي. او ګواهانو له پکار دي چه د ګواهئ د پاره) راوبللے شي نو انکار دِ نه کوي. او معامله که وړه

أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰ أَجَلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ

چه وُ لیکئ هغه | (معامله) وړه وی | یا لویه | د دے میعاد پورې | ستاسو دا کار

وی یا لویه د دے مقرر وخت پورے لیکلو کښے سُستی مه کوئ ، دا طریقه

أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَىٰ

ډیر د انصاف دے | په نزد د الله | او ښه درست ساتونکے دے | شهادت لره | او ډیر نزدے دے

د الله په نزد ښه د انصاف طریقه ده او شهادت د پاره هم ډیره مناسبه ده او د شک شبهے نه بچ

أَلَّا تَرْتَابُوا ۖ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا

دے ته چه نه شئ تاسو شک کښے | مګر | دا چه | وی | تجارت | لاس په لاس | چه اخلئ راخلئ تاسو هغه

کیدو ته زیاته نزدے ده ، خو که لین دین په خپل مینځ کښے لاس په لاس

بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوا

په خپل مینځ کښے | نو نشته | په تاسو | څه ګناه | چه وُ نه لیکئ تاسو هغه | او ګواهان وُ نیسئ

کوئ ، نو د دے په نه لیکلو کښے په تاسو څه (الزام نشته) ، او د بیع په وخت

إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۚ وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ وَإِنْ تَفْعَلُوا

کله چه تاسو سودا کوئ | او نه دِ شی ورکولے تکلیف | لیکونکی ته | او نه ګواه ته | او که چرے تاسو دا سے وُ کړی

کښے څوک نا څوک ګواه نیسئ . او نه دِ لیکونکی ته او نه ګواه ته تکلیف ورکولے شی . او که دا سے کوئ نو

فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ ۗ

نو بیشکه دا | ګناه ده | په تاسو باندِ | او وُ ویریږئ | د الله نه | او زده کوی تاسو ته | الله

دا به ستاسو نافرمانی ګڼړلے شی . او د الله نه ویره کوئ او الله تاسو ته (په خپل مینځ کښے د معاملاتو

وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾ وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ

او الله | په هر څیز باندِ | پوهه دے | او که چرے | تاسو یئ | په سفر باندِ

د درستګئ) تعلیم ورکوی او الله په هر څه باندِ ښه پوهه دے . او که چرے تاسو بهر په سفر یئ ، او

وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ ۖ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ

او نه | بیا مومئ | لیکونکے | نو د ګانړے څیز | په قبضه کښے ورکړئ | نو هر کله چه اعتبار وُ کړی | په تاسو کښے څوک

لیکونکے مونده نه شی نو د قبضے سره په ګانړه (باندِ معامله کوئ) ، که چرے تاسو کښے څوک په بل باندِ

بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ

په بل باندِ | نو پکار دی چه ادا کړی | هغه چا سرے چه | امانت اینبودے شوے دے | خپل امانت | او وُ دِ ویریږی

اعتبار وُ کړی (او لین دین وُ کړی) نو په چا چه اعتبار شوے وی هغه له پکار دی چه هغه خپل امانت پوره ادا کوی او الله نه

اللَّهَ رَبَّهُ ۗ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ۚ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ

د الله نه | چه د هغه رب دے | او مه پټوئ تاسو | ګواهی | او څوک چه | پټه کړی دا | نو بیشکه

دِ ویره کوی چه د هغه رب دے (او ګواهی هیچرے مه پټوئ . او چا چه ګواهی پټه کړه (نو پوهه شه چه)

ع ٣٩ ٧

آثِمٌ قَلْبُهُ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾ لِلَّهِ مَا

څه چه | د الله دي | هم | ښه پوهه دے | تاسو کوئ | په هغه څه چه | او الله | زړه د هغه | ګناهګار دے

پهٔ اسمانونو او په زمکه | د هغه زړه ګناهګار دے ۔ او الله ستاسو په کارونو ښهٔ پوهه دے ۔

فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ

په اسمانونو کښې دي | او څه چه | په زمکه کښې دي | او که ښکاره کوئ تاسو | څه چه ستاسو په زړونو کښې دي

کښې هر څهٔ چه دي ټول د الله مال دے ۔ او که تاسو د زړهٔ خبرے ښکاره کړئ یا ئے پټې

أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ

یا پټ ساتئ هغه | حساب به کوی تاسو سره | په هغے باندې | الله | پس معاف به کړی | هغه څوک | چه وُغواړی

وساتئ الله به ضرور درسره د هغے حساب کوی ۔ نو د چا په حقله ئے چه خوښه شی هغه به وُبخښی

وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾

او عذاب به ورکړی | چا ته چه وُغواړی | او | الله | په هر څیز باندې | قادر دے ۔

او د چا په حقله چه وُغواړی نو عذاب به ورکړی او الله تعالیٰ په هر څهٔ باندې قدرت لری ۔

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ

ایمان راوړو | رسول | په هغه څهٔ چه | نازل کړے شو | هغهٔ ته | د هغهٔ د رب د طرف نه

پیغمبر په هغه کتاب باندې ایمان راوړے دے چه هغهٔ ته د خپل پروردګار د طرف نه راغلے دے

وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ

او ټولو مؤمنانو (هم) | هریو | ایمان راوړے دے | په الله | او د هغهٔ په فرښتو | او د هغهٔ په کتابونو

او مؤمنانو هم ۔ دے ټولو په الله، د هغهٔ په فرښتو، کتابونو او پیغمبرانو باندې ایمان

وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ ۚ وَقَالُوا

او د هغهٔ په رسولانو | مونږ فرق نهٔ کوو | په یو کښې هم | د هغهٔ په رسولانو کښې | او وُئیل هغوی

راوړے دے (او هغوی وائیل چه) مونږ خو د الله په رسولانو کښې څوک یو د بل نه جُدا نهٔ ګڼړو ۔ او هغوی وُوئیل

سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾

واورېدل مونږ | او وُمنله مونږ | بخښنه غواړو له تانه | اے زمونږه ربه! | او ستا طرف ته | بیرته ورتلل دي

چه مونږ (د الله حکمونه) واورېدل او قبول مو کړل ۔ اے زمونږه ربه! مونږ تا نه بخښنه غواړو او تا ته به (اخر) ورتلل دي

لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا

نهٔ | ورکوی تکلیف | الله | هیڅ کس ته | مګر | د هغهٔ د طاقت مطابق | هغهٔ د پاره دی

الله تعالیٰ هیچا ته د هغهٔ د وس نه زیات تکلیف نهٔ ورکوی ، چا چه څهٔ نیکی

مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا

څهٔ نیک عمل ئے چه وُکړو | او هم په هغهٔ باندې دے | څهٔ خراب عمل ئے چه وُکړو | اے زمونږ ربه! | مهٔ نیسه مونږه

وُکړه د هغے ثواب به بیا مومی او چا چه بدی وُکړه د هغے سزا به وُخوری ۔ (ایماندار هم داوائی) اے زمونږه ربه! که

إِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا

کۀ چرې هېر کړو مونږ | یا خطا وُکړو مونږه | اے زمونږ ربه! | او مۀ پږده | په مونږ | بار دروند

مونږ نه هېر شي یا مونږ خطا شو نو په دې مونږ مۀ نیسه اے زمونږه ربه! په مونږ دومره دروند بار مۀ اچوه

كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا

څنګه چه | ایښودے وو تا | په هغو خلقو باندې | چه مونږ نه وړاندې وو | اے زمونږ ربه! | او مۀ پږدې په سر زمونږ

لکه زمونږ نه وړاندې چه دې په نورو خلقو اچولے وُو، اے زمونږ ربه! داسے دروند بار

مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۗ وَاغْفِرْ لَنَا ۗ

هغه څۀ چه نشته دے طاقت | زمونږ د هغې (د اوچتولو) | او عفوه وُکړه | مونږ ته | او بخښنه وُکړه | مونږ ته

راته په سر مۀ پږده چه مونږ ئے د اوچتولو طاقت نۀ لرو او زمونږ ګناهونه معاف کړه او مونږ ته بخښنه وُکړه

وَارْحَمْنَا ۚ اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٨٦﴾

او رحم وُکړه په مونږ | هم ته یئے | مالک زمونږ | پس مدد وُکړه زمونږ | په قوم د کافرانو ـ

او په مونږ رحم وُکړه، ته زمونږ مالک یئے نو د کافرانو په مقابله کښې مونږ له غلبه راکړه ـ

ع

سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | مِائَتَا اٰيَةٍ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورة آل عمران مدني ده او په دې | (شروع) د الله په نامه چه نهایت مهربان زیات رحم کونکے دے | کښې دوه سوه آیتونه او شل رکوع دي

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کونکے دے.

الٓمّٓ ﴿١﴾ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ﴿٢﴾ نَزَّلَ

الٓمّٓ | هم الله دے | نشته دے بل معبود | سوا | د هغۀ نه | هغه همیشه ژوندے | د ټولو قائم ساتونکے دے | نازل ئے کړو

اے خلقو! الله هغه (ذات) دے چه د هغۀ نه سوا بل معبود نشته تل ژوندے دے ټول مخلوق سنبال ساتي هغۀ

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

په تا باندې | کتاب | په حق سره | تصدیق کونکے دے | د هغه (کتابونو) چه وړاندې د دۀ نه وُو

په تا دا کتاب په حقه نازل کړے دے چه د هغه ټولو کتابونو تصدیق کوي چه د دې نه وړاندې راغلي دي

وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿٣﴾ مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ

او نازل کړے دے | تورات | او انجیل | د دے نه وړاندې | هدایت (دے) | خلقو د پاره

او هغۀ د دې نه وړاندې تورات او انجیل د خلقو د هدایت د پاره نازل کړي دي

وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

او نازل ئے کړو | (په حق او باطل کښې) فرق کونکے | بیشکه | کوم خلق چه | منکر دي | د الله د آیتونو ،

او د حق او باطل بیلونکے کتاب (قرآن) ئے رالیږلے دے نو بیشکه څوک چه (او س هم) د الله د حکمونو منلو نه انکار

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿٤﴾ اِنَّ اللّٰهَ

هغوی د پاره | عذاب دے | سخت | او الله | زبردست دے | بدله اخستونکے | بیشکه الله دے

کوي، هغوی ته به سخت عذاب ورکولے شي، او الله د اختیار خاوند دے او د بدکارو نه بدله ورکوي بیشکه د الله

لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ۝٥
(چه) پټ نه دے د هغهٔ نه | هیڅ څیز | په زمکه کښے | او نه | په آسمان کښے
نه د زمکے او د آسمان هیڅ څیز هم پټ نهٔ دے۔

هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ
هم هغه دے | کوم چه | صورت جوړوی ستاسو | په رحمونو کښے | څنګه چه غواړی
الله هغه ذات دے چه ستاسو تصویرونه د میندو په ګیډو کښے هغسے جوړوی څنګه ئے چه خوښوی

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٦ هُوَ الَّذِيْٓ
نشته دے بل معبود | سوا د هغهٔ نه | (چه) غالب | د حکمت خاوند دے | هم هغه دے کوم چه
بے د هغهٔ نه بل معبود نشته په هر څه غالب دے د حکمت خاوند دے۔ هغه خدائے دے چه

اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ
نازل کړو | په تا باندے | (دا) کتاب | د کوم چه ځنے آیتونه | محکم دی | هغه | اصل د کتاب دی
اوس ئے په تا دا کتاب نازل کړے دے چه په کښے (دوه قسمه آیتونه دی) ځنے محکمات چه هغه د کتاب بنیادی آیتونه

وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ۭ فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ
او ځنے نور | متشابهات دی۔ | پس هغه خلق چه | په زړونو د هغوئ کښے | کوږوالے دے
دی او نور متشابهات دی نو د چا په زړونو کښے چه کږلیچ وی نو هغوی

فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ
هغوی خو پیروی کوی | د هغو چه متشابه دی | له دے نه | د پاره د لټولو د فتنے | او د پاره د لټولو
د فتنے جوړولو په کوشش کښے په متشابه آیتونو پسے لټون کوی او د هغے نه د معنو اخستلو

تَاْوِيْلِهٖ ڤ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ڤ وَالرّٰسِخُوْنَ
د مراد د هغے | او نهٔ پوهیږی | په مراد د هغے | مګر | الله | او کوم چه پاخهٔ دی
کوشش کوی او د هغے په سم مطلب خو یوازے الله پوهیږی ، او څوک چه پاخهٔ

فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ۚ
په علم کښے | هغوی وائی | مونږ ایمان راوړے دے په هغے | دا ټول | زمونږ د رب د طرف نه (دے)
عالمان دی نو هغوی وائی چه مونږ پرے ایمان راوړے دے. دا ټول زمونږ د رب د طرف نه دی

وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٧ رَبَّنَا لَا تُزِغْ
او نصیحت نهٔ قبلوی | مګر | خاوندان د عقل | اے ربه زمونږه | کاږه مهٔ کړے
او د دے خبرے نه خو) پس هوښیار خلق سبق اخلی۔ (او دا سوال کوئ چه) اے زمونږ ربه! زمونږ زړهٔ

قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ
زړهٔ زمونږه | پس له هغے نه | چه لاره دے ښودله مونږ ته | او راکړه مونږ ته | له طرف خپل نه
د هدایت مونده لو نه پس په کږلیچ مهٔ اخته کوه او مونږ ته د خپل طرف نه رحمتونه

رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ⑧ رَبَّنَآ إِنَّكَ

رحمت | بیشکه هم ته یې | ډیر عطا کوونکے | اے زمونږه ربه ! | بیشکه ته

وُ بخښه بیشکه ته ډیر څه ورکوونکے یې . اے زمونږه ربه ! بیشکه ته په هغه ورځ

جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ

جمع کوونکے دَ خلقو یې | په هغه ورځ | چه هیڅ شک نشته ګ | په هغې کښې | بیشکه | الله | نهٔ ماتوی

دَ ټولو خلقو راټولوونکے یې چه دَ هغې په راتلو کښې هیڅ شک نشته . الله تعالیٰ هیڅرے دَ وعدې

الْمِيعَادَ ⑨ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ

(خپله) وعده | یقیناً هغه خلق کوم چه | کافران دی | هیڅ کله به په کار رانهٔ شی | دَ هغوئ | مالونه دَ هغوئ

خلاف نهٔ کوی . چا چه کفر غوره کړے دے هغوی ته به دَ الله تعالیٰ په مقابله کښې نهٔ

وَلَا أَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ ⑩

او نهٔ اولاد دَ هغوی | دَ الله په وړاندې | هیڅ (هم) | او هم هغوی دی | خشاک | (دَ) دوزخ

مال څهٔ فائده ورکړی او نهٔ اولاد . هم دغه خلق به دَ دوزخ خشاک ګرځی .

كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوا

لکه چه معامله وه | دَ فرعون دَ قوم | او دَ هغو خلقو | چه دَ هغوی نه وړاندې ؤ | هغوی دروغ وګڼل

(دَ هغوی انجام به) دَ فرعون دَ ملګرو او دَ هغوی نه هم دَ پخوانو نافرمانو خلقو په شان (شی) چه زمونږ

بِآيَاتِنَا ۚ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ⑪

زمونږ ایتونه | نو ونیول هغوی | الله | په وجه دَ ګناهونو دَ هغوی | او الله | سخت | عذاب ورکوونکے دے

ایتونه ئے دروغ وګڼل ، نو الله تعالیٰ په خپلو ګناهونو کښې راګیر ول او الله تعالیٰ په عذاب ورکولو کښې ډیر سخت دے

قُلْ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ

ووایه | هغو خلقو ته چه | کافران دی | چه مغلوب به کړے شئ تاسو | او راټولولے به کړے شئ تاسو

چا چه (تا نه) انکار کړے دے هغوی ته ووایه چه تاسو به ډیر زر مغلوب شئ او دوزخ ته به راغونډ

إِلَىٰ جَهَنَّمَ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ⑫ قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ

دوزخ طرف ته | او هغه بد | ځائے دے | بیشکه ده | تاسو دَ پاره | نخښه

کړے شئ . او هغه ډیر خراب ځائے دے . تاسو دَ پاره په هغې دوو ډلو کښې دَ عبرت

فِي فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

په هغه دوو ډلو کښې | چه سره مخامخ شوی دی | یوه ډله | جنګ کوله | په لاره کښې | دَ الله

سامان پروت وو چه (په بدر کښې) یو بل سره جنګیدلی ؤ . یو ټولی خو دَ الله تعالیٰ په لاره کښې جنګ کولو او بل

وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ ۚ

او بله (ډله) | (دَ) کافرانو (وه) | چه لیدل مسلمانانو ته کافرانو | دوچنده دَ خپل ځان نه | په لیدلو | دَ سترګو سره

ټولے دَ کافرانو ؤ ، مسلمانانو به په سترګو لیدل چه کافر دَ هغوی نه یو په دوه ؤ (خو دَ ښې نه

وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً

او الله | قوت ورکوي | په خپل مدد سره | هغه چاته چه وغواړي | بېشکه | په دې کښې | عبرت دې

ثابته شوه چه) الله تعالیٰ د چا په حقله غواړي نو په خپل امداد سره د هغه تائید کوي، په دې واقعه کښې د سترګو

لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ١٣ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ

د کتونکو | د پاره . | ښائسته کړې شوې ده | خلقو ته | محبت | (د) نفساني خواهشاتو

خاوندانو له د عبرت سامان پروت دے. خلقو ته نفساني خواهشونه ښائسته کړے شوي دي

مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ

لکه ښځې | او ځامن | او خزانې | جمع شوې | (د) سرو زرو

لکه ښځې او ځامن (شول) د سرو او سپینو ډیرې (شول)

وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ ذٰلِكَ

او سپینو زرو | او اسونه | نخښې لګیدلي شوي | او څاروي | او فصل | دا (خو)

دا د دنیا د ژوند شوي اسونه (شول) څاروي او پټي بټي (شول) چوټي

مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ١٤ قُلْ

سامان دې | د ژوند | د دنیا | او الله | سره دے | ښه ځائے د واپس ورتلو | ووایه

ژوند سازوسامان دے. او (د آخرت) ډیر ښه ژوند خو هم د الله تعالیٰ سره دے. (اے پیغمبره!)

اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا

ایا خبر درکړم زه تاسو ته | (چه) ډیر ښه (دے) | له دې نه | د هغو خلقو د پاره کوم چه | پرهیزګاري

دوی ته ووایه چه ایا زه تاسو ته د دې (مال او اسباب) نه ښه څیز ونه ښایم؟ څوک چه پرهیزګاري کړي هغوی د

عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

د هغوی د رب سره | (هغه) باغونه دي | چه بهیږي به | لاندې د هغې نه | نهرونه | همیشه اوسیدونکي به وي | په هغې کښې

پاره د خپل رب سره داسې باغونه تیار دي چه د هغې لاندې ولې بهیږي، هغوی به په دې کښې همیشه اوسیږي

وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ ۢ

او ښځې (دي) | پاکیزه | او رضامندي | د الله | او الله | ښه کوري

او پاکیزه بیبیانې به ورته ملګرې وي او الله تعالیٰ به ترې نه راضي وي او الله تعالیٰ د خپلو بندیانو

بِالْعِبَادِ ١٥ اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا

بندګانو (ته) | هغه خلق کوم چه | وائي | اے زمونږه ربه! | بېشکه مونږ | ایمان راوړے دے

عمل وینې کوري. دا هغه خلق دي چه وائي اے زمونږه پاکه ربه! مونږ په تا ایمان راوړے دے

فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ١٦ اَلصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰدِقِيْنَ

پس معاف کړه مونږ ته | ګناهونه زمونږ | او وساته مونږ | له عذاب د اور نه | چه صبر کوونکي | او رښتیا ویونکي

نو مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښه او د اور د عذاب نه مو په امان وساته، دوی صابره دي، رښتینې دي

وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْمُنْفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ۱۷

او فرمانبردار | او خرڅ کوونکي | او معافي غوښتونکي دي | په وختونو د سحر کښې

فرمانبردار دي ، خير خيرات کوي ، او د شپې په وروستي پاروونو کښې د بخښنې دعا غواړي.

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ

ګواهي ورکړه الله | چه | نشته د ېڅ بل معبود | سوا د هغه نه | او فرښتو | او علم والو (هم)

الله په دې خبره ګواه دے چه بغير د هغه نه بل خدائے نشته او فرښتې او عالمان هم په دې خبره ګواه دي.

قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۱۸

(هغه) قائم (دے) | په انصاف باندې | نشته بل معبود | سوا د هغه نه | (چه) زبردست | د حکمت خاوند (دے)

(هم هغه دے کوم چه) په حق وانصاف سره کائنات سنبال کړي دي، بې د خدائے نه بل معبود نشته د اختيار او د حکمت خاوند دے.

اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۣ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ

بيشکه دين (حق) | په نزد د الله | اسلام دے | او اختلاف ونه کړو | هغو خلقو

بيشکه د الله په نزد (مقبول) دين يوازې اسلام دے . او اهل کتابو چه د علم را رسيدلو

اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًاۢ بَيْنَهُمْ ؕ

کوموته چه ورکړې شوې وو کتاب | مګر | پس له هغې نه چه | راغلو هغوی ته | علم | د ضد نه | په مينځ د هغوی کښې

نه پس کوم اختلاف کړے دے د هغې وجه صرف داوه چه په خپل مينځ کښې ئې ضد بازي وه ،

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۱۹

او څوک چه | انکار وکړي | د الله د ايتونو نه | پس بيشکه الله | زر حساب (اخستونکے دے)

او څوک چه د الله د حکمونو نه انکار وکړي (نو هغه ته دې ياد وي چه) الله ډير زر حساب اخستونکے دے.

فَاِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ

پس که چرې | جګړه کوي هغوی تاسره | نو ووايه | سپارلے دے ما | خپل مخ | الله ته | او هغه چا چه

نوکه اوس هم دوی تاسره جګړه کوي نو دوی ته ووايه چه ما او زما پيروکارو د الله حکم ته غاړه

اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ ؕ

پيروي ئې وکړه زما | او ووايه | هغو خلقو ته (چاته چه) | ورکړے شو کتاب | او نالوستونکو ته | ايا اسلام راوړے دے تاسو؟

ايښې ده . او د اهل کتابو او د اميانو (مشرکانو) نه تپوس وکړه چه ايا تاسو هم د هغه حکمونو ته غاړه ايښې ده؟

فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا

پس که چرې | اسلام راوړو هغوی | نو بيشکه | بيامونده هغوی سمه لار | او که چرې | هغوی مخ واړولو | پس بيشکه

نو که ئې غاړه ورته کيښوده نو سمه لار ئې بيامونده . او که چرې نافرماني ئې وکړه نو هغوی پرېږده ځکه

عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۲۰ اِنَّ الَّذِيْنَ

چه لازم دي په تا | پيغام رسول | او الله | ښه ګوري | بندګانو ته | بيشکه هغه خلق (کوم چه)

په تا باندې صرف (د حکمونو) رسول فرض دي او الله د بندګانو کاروونه وينې ګوري . يقيناً کوم خلق چه

النصف

ع ۱۱ / ۱۰

يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُوْنَ

انکارکوی | دَ الله دَ آیتونو | او وژنی | پیغمبران | په ناحقه | او وژنی

دَ الله دَ حکمونو نه انکارکوی ، او په ناحقه پیغمبران وژنی ، او هر هغه څوک

الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ

هغه خلق چه | حکم کوی | دَ انصاف کولو | له خلقو نه | پس زیری ورکړه هغوی ته

وژنی چه (دَ خلقو ترمینځه) دَ عدل او انصاف کولو حکم ورکوی ، نو دغه کسانو ته دَ دردناک

بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢١﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا

دَ عذاب | دردناک | هم دا | هغه خلق دی | چه ضائع شول | عملونه دَ دوی | په دُنیا

عذاب زیری ورکړه . دا هغه (بد بخت) کسان دی چه په دُنیا او اخرت دواړو کښې ئې عملونه

وَالْاٰخِرَةِ ۡ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ

او اخرت کښې | او نه به وی دَ دوی | څوک مدد ګار | آیا نه دی کتلی تا | هغو خلقو ته چه

عبث لاړل . او دَ هغوی مدد ګاران هیڅوک هم نشته . (اے پیغمبره) آیا تا دَ هغو خلقو په حال باندې

اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ

ورکړې شوې دې هغوی ته | یوه برخه | له کتاب نه | هغوی رابللے شی | دَ الله دَ کتاب طرف ته

غور نه دے کړے چا ته چه دَ کتاب (دَ علم) څه حصه ورکړے شوې ده کله چه هغوی دَ الله کتاب ته په دې غرض

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ وَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٣﴾

چه فیصله وکړی هغه | په هغوی کښې | بیا | مخ ګرځوی | یوه ډله | له هغوی نه | او هغوی | مخ ګرځوونکی دی

رابللے شی چه دَ هغوی ترمینځه دَ جګړو فیصله وکړی نو دَ هغوی یوه ډله ترې نه شګ وکړی او هغوی همیشه دَ حق نه مخ

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۠

دا | ځکه چه هغوی | وائی | هیڅ کله به نه رسیږی مونږ ته | اور | مګر | څو ورځے | دَ شمیر

ګرځوونکی دی . دا ځکه چه دَ هغوی دا خیال دے چه بغیر دَ شمیر دَ یو څو ورځو نه مونږ ته به هیڅکله دَ دوزخ اور نه رارسیږی

وَغَرَّهُمْ فِىْ دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ اِذَا

او دوکه ورکړه هغوی ته | دَ هغوی په دین کښې | دَ هغوی له خانه جوړو شوو خبرو | پس څه (حال به وی) | هر کله چه

او دَ دین په معامله کښې هغوی دَ هغوی خبرو په دوکه کښې اچولی دی کومے چه هغوی دَ خانه جوړے وی . (غور وکړئ) دَ هغوی

جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۠ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ

مونږ جمع کړو هغوی | په هغه ورځ | چه هیڅ شک نشته | په هغے کښې | او پوره به ورکړے شی | هر یو کس ته

به څه حال وی چه مونږ هغوی دَ قیامت په ورځ راجمع کړو دَ کوم په راتلو کښې چه هیڅ شک نشته . او هر یو ته به دَ خپل عمل

مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ

کوم چه هغه عمل وکړو | او (په) هغوی | به ظلم ونه کړے شی | ووایه | اے الله ! | اے مالکه دَ بادشاهئ

پوره پوره بدله ورکړے شی او په هغوی به بالکل ظلم نه کیږی (اے پیغمبره !) ته ووایه چه اے الله ! دَ بادشاهئ والکه

تُؤْتِى الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ ۚ

غواړے | دَ چا نه چه | حکومت | او واپس اخلے | چا ته چه غواړے | حکومت | ته ورکوے

چاله چه غواړے حکومت ورکوے او دَ چا نه چه غواړے حکومت اخلے ،

وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ

ستا په لاس کښے (دی) | چا ته چه غواړے | او ذلت ورکوے | چا ته چه غواړے | او عزت ورکوے

او چاله چه دَ غواړے نو عزت ورکړے او څوک چه دَ غواړے نو ذلیل ئے کړے ، ټول خیر ستا په

الْخَيْرُ ۖ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾ تُوْلِجُ الَّيْلَ

شپه | ته داخلوے | قادر | په ټولو څیزونو | بیشکه ته یئے | خیر

لاس کښے دی. بیشکه چه ته په هر څهٔ قدرت لرے. ته شپه په ورځ کښے

فِى النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ ۫ وَتُخْرِجُ الْحَىَّ

ژوندے | او بیا ته راوباسے | په شپه کښے | ورځ | او داخلوے | په ورځ کښے

ننباسے ، او ورځ په شپه کښے ننباسے . او دَ مړی نه ژوندے

مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَىِّ ۫ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ

چا ته چه غواړے | او ته رزق ورکوے | دَ ژوندی نه | مړے | او راوباسے | له مړی نه

راوباسے ، او دَ ژوندی نه مړے راوباسے ، او چاله چه دَ غواړے بے حسابه

بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾ لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ

دوستان | کافرانو لره | مسلمانان | پکار دَ چه دَ نهٔ نیسی | بے حسابه

روزی ورکوے. مؤمنان دِ کافران هیچرے خپل ځان له نهٔ دوستان کوی

مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ

دَ الله (دَ طرف نه) | پس نهٔ دے | دا سے | او څوک چه وُکړی | بغیر له مؤمنانو نه

بغیر له مؤمنانو نه . او (یاد ساتئ) چا چه داسے وُکړل دَ هغهٔ دَ الله سره هیڅ تعلق

فِىْ شَىْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ۭ وَيُحَذِّرُكُمُ

او ویروی تاسو | دَ څهٔ ویرے نه | (په دے صورت کښے) چه تاسو له بچ کیدل وی دَ هغوی نه | مګر | په هیڅ څیز کښے

نشته ، مګر په دے صورت کښے (ظاهری تعلق ساتلے شئ) چه تاسو ته دَ هغوی دَ طرف نه څه ویره وی او (یاد ساتئ)

اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨﴾ قُلْ اِنْ تُخْفُوْا

که چرے تاسو پټ ساتئ | دَ وایه | واپس تلل دی | او خاص دَ الله طرف ته | دَ خپل ذات نه | الله

چه الله تاسو دَ خپل ذات (دَ عظمت) نه ویروی او (اخر) هم الله طرف ته واپس تلل دی. (اے پیغمبره!) ورته دَ وایه چه که تاسو

مَا فِىْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ۭ وَيَعْلَمُ مَا

په هغه څه | او هغه پوهه دے | پوهه دے په هغے الله | یا هغه تاسو ښکاره کړئ | ستاسو په سینو کښے (دی) | څهٔ چه

دَ خپل زړهٔ خبرے پټے ساتئ او که څرګندے ئے کړئ خو هغه خدائے ته معلومے دی. او په اسمانونو کښے

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ

چه په آسمانونو کښې (دي) | او څه چه | په زمکه کښې (دي) | او الله | په ټولو څيزونو

او په زمکه کښې هر څۀ چه دي ټول الله ته ښکاره دي. او الله په هر څۀ باندې پوره پوره

قَدِيْرٌ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ

قادر دے | هغه ورځ چه | بيا به مومي | هر يو کس | څۀ چه | ؤکړل هغه | له نيکئ نه

قدرت لرونکے دے. هغه ورځ زياده (لرې) کله چه به هر يو نفس د خپلو نيکو کارونو نتيجه موجود

مُّحْضَرًا ۚ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْۗءٍ ۚ تَوَدُّ لَوْ

حاضر کړل شوې | او هغه څۀ چه کړي دي هغۀ | له بدئ نه | خوښوي به هغه | چه کاش (دا)

بيا مومي. او د خپلو بدو کارونو نتيجه هم. ارزو به کوي چه کاش!

اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًۢا بَعِيْدًا ۭ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ

د هغه (بدئ) او د هغۀ ترمينځه | فاصله | اوږده | او ويروي تاسو | الله | له خپل ځان نه

د هغۀ او د دے ورځې ترمينځه يو اوږده موده وے. او الله تاسو د خپل ځان نه ويروي.

وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٣٠﴾ قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ

او الله | ډير مهربان (دے) | په بندګانو | ؤوايه | که چرے تاسو | محبت ساتئ | د الله سره

او الله د خپلو بنديانو ډير زيات خير خواه دے. (اے پيغمبره!) ؤوايه که چرے تاسو په رښتيا د الله سره مينه لرئ،

فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

نو زما پيروي ؤکړئ | محبت به ؤکړي تاسو سره الله | او معاف به کړي تاسو ته | ستاسو ګناهونه | او الله | بخښونکے

نو زما پيروي ؤکړئ، الله به تاسو سره مينه ؤکړي او ستاسو ګناهونه به ؤبخښي، او الله بخښونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ

مهربان دے | ؤوايه | حکم ومنئ | د الله | او د رسول | پس که چرے | مخ وا اړوي | پس بيشکه

مهربان دے. (دوي ته) ؤوايه چه د الله او د هغۀ د رسول حکمونه منئ. نو که دوي ترے نه په شا شول

اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓي اٰدَمَ وَنُوْحًا

الله | نۀ خوښوي | کافران | بيشکه الله | غوره کړل | آدم | او نوح

نو الله د نافرمانو خلقو سره هيڅ کله مينه نۀ کوي. الله حضرت آدم او حضرت نوح او د

وَّاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرٰنَ عَلَي الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٣﴾ ذُرِّيَّةً

او خاندان د ابراهيم | او کورنئ د عمران | په عالمونو باندې | (چه) اولاد (دي)

حضرت ابراهيم اولاد او د عمران صاحب اولاد د نورو ټولو خلقو نه غوره کړي دي. دا د يو بل

بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٤﴾ اِذْ قَالَتِ

د يو بل | او الله | اورېدونکے | پوهه دے | هر کله چه ؤويل

سلسلے خلق دي او د يو بل د کورنئ دي او الله هر څۀ اوري په هر څۀ پوهه دے. (هغۀ اورېدل) کوم

امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّیْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِیْ بَطْنِیْ

ښځې | دَ عمران | اے زمار ربه! | بيشکه ما نذر دُ منلو | تا ته | څهٔ چه زما په ګېډه کښے دی

وخت چه دَ عمران ښځې وُ وئیل چه اے زمار ربه! زهٔ (دَ هغې ماشوم) ستا په نامه منښته کوم چه زما په ګېډه کښے پروت دے

مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۵﴾

ازاد کړے شوے | پس قبول کړه | له ما نه | بيشکه ته يې | اَوریدونکے | پوهه

هغه به (ستا کار ته) ازاد وی تو زما منښته قبوله کړه ، ته هر څهٔ اَورے (او زما په نيت) ښهٔ پوهه يې ـ

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ اِنِّیْ وَضَعْتُهَاۤ اُنْثٰی ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

پس هر کله چه | وَزیږوله دَ هغه | نو وُ وئیل هغې | اے زمار ربه! | بيشکه ما وُ زیږوله دا | جینئ | او الله | پوهه دے

نو هر کله چه دَ هغې جینئ وَزیږیده نو وُ ئے وئیل اے زمار ربه! دا خو مِ لُور وُ شوه ـ او الله ته ښهٔ معلومه ده

بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَلَیْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰی ۚ وَاِنِّیْ سَمَّیْتُهَا مَرْیَمَ

په هغه څهٔ چه دِے وُ زیږوله | او نهٔ دے | هلک | پشان دَ جینئ | او ما دَ هغې نوم کیښود | مریم

چه دَ هغې څهٔ شوی وُو (هلک که جینئ) او نارینه دَ زنانه په شان نهٔ وی ، او ما په دے باندِ مریم نوم کیښود

وَاِنِّیْۤ اُعِیْذُهَا بِكَ وَذُرِّیَّتَهَا مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ﴿۳۶﴾

او بيشکه زهٔ | په پناه کښے ورکوم دا | ستا | او دَ دِے اولاد (هم) | له شیطان | مردود نه

او زهٔ دا جینئ او دَ دِے اولاد دَ لعنتی شیطان دَ شره نه ستا په پناه کښے درکوم ـ

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ

پس قبوله کړه دا | رب دَ دِے | په قبلولو | ښو سره | او وَ زرغونه ئے کړه دا | په زرغونولو | ښو سره ـ

نو الله هغه جینئ په ښهٔ شان سره قبوله کړه ، او ډیره نیکه ئے لویه کړه ـ

وَّكَفَّلَهَا زَكَرِیَّا ؕ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَیْهَا زَكَرِیَّا الْمِحْرَابَ ۙ

او په حواله ئے کړه دا | زکریا ته | هر کله چه به | داخلیدو | هغې ته | زکریا | په حجره کښے

او زکریا علیه السلام ئے دَ هغې سرپرست کړو ـ هر کله چه به زکریا علیه السلام دَ هغې (مریم) کوټۍ ته ورننوتو

وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ یٰمَرْیَمُ اَنّٰی لَكِ هٰذَا ؕ

نو موندل له به دهٔ | دَ هغې سره | روزی | وُ وئیل ده | اے مریم! | له کوم ځائے نه ده تا له | دا (روزی)

نو هلته به ئے دَ هغې سره دَ خوراک څیزونه موندل ، دَ هغې نه ئے تپوس وُکړو چه اے مریم! دا در سره دَ کوم ځائے نه

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یَرْزُقُ مَنْ یَّشَآءُ

وُ وئیل دے | دا | له طرفه دَ الله نه ده | بيشکه الله | روزی ورکوی | چا ته چه وُ غواړی

راغلی دی؟ هغې جواب ورکړو چه دا دَ الله دَ طرف نه راغلی دی بيشکه الله چه چا له وغواړی نو بے حسابه روزی

بِغَیْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾ هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِیَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ

بے حسابه | دغه وخت | دُعا وکړه | زکریا | دَ خپل رب نه | وُ وئیل دهٔ | اے زمار ربه!

ورکوی ـ په دغه وخت کښے حضرت زکریا دَ خپل رب نه سوال وُکړو وُ ئے وئیل چه اے زمار ربه!

هَبْ لِیْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّیَّةً طَیِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِیْعُ الدُّعَآءِ ۝۳۸

راکړه ماته | دَ خپل طرف نه | اولاد | پاک | بیشکه ته یې | اورېدونکے | دَ دُعا

ماله دَ خپل دَرَ نه پاکیزه اولاد راکړه ، بیشکه ته دَ هرچا دُعا گانې اورې .

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ یُّصَلِّیْ فِی الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ

پس اواز وُکړو هغهٔ ته | فرښتو | او هغه | ولاړ وو | مونځ یې کولو | په محراب کښې | چه بیشکه | الله

دَ دې په جواب کښې فرښتو ورته وُوئیل او هغه په محراب کښې په مونځ باندې ولاړ وو ، چه الله تا له دَ حضرت

یُبَشِّرُكَ بِیَحْیٰی مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَسَیِّدًا

زیرے درکوی تاته | دَ یحییٰؑ | چه تصدیق به کوی | دَ یو کلمے (عیسیٰؑ) | دَ الله | او سردار (به وی)

یحییٰ (دَ پیدا کیدو) زیرے درکوی چه هغه به دَ خدائے دَ یو کلمے (حضرت عیسیٰؑ) تصدیق کوی او سردار به وی

وَّحَصُوْرًا وَّنَبِیًّا مِّنَ الصّٰلِحِیْنَ ۝۳۹ قَالَ رَبِّ

او (نفس) منع کوونکے | او نبی | دَ نیکانو نه | عرض یې وُکړو | اے زما ربه!

او خپل نفس به په قابو کښې ساتی ، پیغمبر به وی او دَ نیکانو په ډله کښې به شامل وی . (ذکریاؑ) ووئیل ، اے الله !

اَنّٰی یَكُوْنُ لِیْ غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِیَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِیْ عَاقِرٌ ؕ

څنګه به وی | زما | هلک | او رسیدلے دے ماته | بوډا والے | او زما ښځه | شنډه ده

ماکره به هلک څنګه پیدا شی ؟ زهٔ خو بوډا شوے یم ، او ښځه م شنډه ده

قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ یَفْعَلُ مَا یَشَآءُ ۝۴۰ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ

وُ یې فرمائیل | هم دغه شان | الله | کوی | څهٔ چه غواړی | وُ یې وئیل | اے زما ربه! | مقرر کړه

(فرښتے ورته) وُوئیل چه هم دغسے به کیږی ، الله چه څهٔ غواړی هغه کیږی . ذکریاؑ ووئیل اے زما ربه ! ماله یوه

لِّیْۤ اٰیَةً ؕ قَالَ اٰیَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ

ما دَ پاره (څهٔ) نخښه | وُ یې فرمائیل | نخښه ستا دا ده | چه خبرے به نهٔ شے کولے ته | دَ خلقو سره | درې

نخښه مقرره کړه (فرښتو) ووئیل چه تا دَ پاره دا نخښه شوه چه درے ورځے به دَ اشارے نه بغیر چا سره

اَیَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِیْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِیِّ

ورځے | مګر په اشاره | او یادوه | رب خپل | ډیر | او تسبیح وایه | ماښام

خبرے نهٔ شے کولے او (په شکر یه کښې) الله ډیر ډیر یادوه ، او سحر ماښام دَ هغهٔ تسبیح

وَالْاِبْكَارِ ۝۴۱ وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ یٰمَرْیَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ ع ۱۱/۱۲

او صبا | او هر کله چه | وُوئیل | فرښتو | اے مریم! | بیشکه الله | غوره کړے ته

بیانوه . او (دا هم یاد کړه) هر کله چه فرښتو ووئیل اے مریم ! الله ته غوره کړے یې او ته یې

وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفٰىكِ عَلٰی نِسَآءِ الْعٰلَمِیْنَ ۝۴۲ یٰمَرْیَمُ اقْنُتِیْ

او پاکه یې کړے ته | او غوره یې کړے ته | په ښځو | دَ عالمونو باندې | اے مریم! | فرمانبرداری کوه

پاک پاکیزه ساتلے یې او ته یې دَ دُنیا په ټولو ښځو باندې غوره کړے یې . اے مریم ! دَ خپل رب

لِرَبِّكِ وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴿٤٣﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ

دَ خپل رب | او سجده کوه | او رکوع کوه | رکوع کوونکو سره | دا | خبرونه دي

اطاعت کوه، هغه ته سجده کوه او څوک چه الله ته عاجزي کوي هغوي سره ته هم عاجزي کوه. (اے پیغمبره!) دا دَ غیبو

الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ

دَ غیب | کوم چه موږ درته وحی کوو | ستا طرف ته | او ته نه وے | دَ هغوی سره | هرکله چه هغوی غورځول

خبرونه دي چه موږ ئے تا ته په وحی درکوو او ته هغه وخت حاضر نه وے چه (دَ هیکل) هغه (خادمانو) خپل خپل

أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ

خپل قلمونه | چه څوک به دَ هغوی نه | سرپرست وی | دَ مریم | او ته نه وے | دَ هغوی سره

قلمونه په دے غرض غورځول چه څوک به دَ مریم سرپرست شي او نه وے سره هغه وخت موجود وے چه هغوی

إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾ إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ

هغه وخت چه هغوی جګړه کوله | هرکله چه ووئیل | فرښتو | اے مریم! | بیشکه الله | زیرے درکوی تا ته

په خپل مینځ کښے جګړه کوله، څه وخت چه فرښتو ورته ووئیل، اے مریم! الله تا له دَ خپل فرمان

بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا

دَ خپل یو حکم | چه نوم دَ هغه | مسیح | عیسیٰ | ځوئے دَ مریم دے | دَ مرتبے خاوند (به وی)

زیرے درکوی، دَ هغه نوم به مسیح عیسیٰ ابن مریم وی په دُنیا او اخرت

فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ

په دُنیا او اخرت کښے | او له نزدے شوو نه به وی الله | او هغه به خبرے کوی | دَ خلقو سره

دواړو کښے به عزتمند وی او دَ الله نه به په نزدے خلقو کښے شمیروی او خلقو سره به په زانګو کښے

فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَتْ رَبِّ

په زانګو کښے | او په پوخ عمر کښے | او | دی به له نیکانو نه | هغے ووئیل | اے زما ربه!

هم خبرے کوی او په زوړ والی کښے هم او دَ نیکو کارو نه به وی. حضرت مریمؑ ووئیل اے زما ربه!

أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ۖ قَالَ

څنګه | به وی | زما | ځوئے | او | نه دے را رسولے ما ته لاس | چا بنیادم | وُ فرمائیل

زما به لا څنګه ځوئے کیږی ما ته خو چا نارینه لاس (نه دے) رانه دے هم راوړے نه دے. فرښتے ووئیل

كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ

هم دغه شان | الله | پیدا کوی | څه چه وغواړی | هرکله چه فیصله کوی (دَ یو) کار | پس بیشکه چه | وائی

دغسے به کیږی الله چه څه غواړی هغه پیدا کوی، هغه چه دَ یو کار فیصله وکړی نو بس ته وائی چه

لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾ وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ

هغه کار ته چه شه | پس هغه شی | او هغه به زده کوی هغه ته | کتاب | او پوهه | او تورات

وشه نو هغه کار وشی. او هغه ته به الله دَ کتاب، دَ حکمت دَ تورات او انجیل

وَالْاِنْجِيْلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ اَنِّيْ

او انجيل . | او رجوړ به کړي هغه) رسول | دَ بني اسرائيلو طرف ته | چه ما

علم ور کړي. او دَ بني اسرائيلو دَ پاره به ئے رسول مقرر کړي (چه ورته به وائي) ما دَ الله دَ

قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّيْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ

راوړے دے تاسو ته | نخښه | ستاسو دَ رب طرف نه | چه زهٔ | جوړوم | تاسو لـه

طرف نه تاسو ته يوه غټه نخښه راوړے ده ، چه زهٔ ستاسو په وړاندې دَ خټې نه دَ

مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ فَيَكُوْنُ طَيْرًاۢ

له خټې نه | په شان دَ شکل دَ مارغهٔ | بيا پُوکے کوم زهٔ | په هغې کښې | نو شي به هغه | مارغهٔ

مارغهٔ په شان يو شکل جوړوم ، بيا پکښې پُوکے ور کوم ، نو هغه به دَ خدائے په حکم

بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ وَاُحْيِ الْمَوْتٰى

په حکم دَ الله | او رغومه زهٔ | پيدائشيړوند | او برگ | او ژوندي کوم | مړي

مارغهٔ شي ، او پيدائشي ړوند او برگ رغوم ، او دَ الله په حکم مړي

بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِيْ بُيُوْتِكُمْ ؕ

دَ الله په حکم سره | او خبر در کوم تاسو ته | څه چه | تاسو خورئ | او څهٔ چه تاسو ذخيره کوئ | په خپلو کورونو کښې

ژوندي کوم او دا درته ښودلے شم چه تاسو څهٔ خوړلي دي او څهٔ مو په کورونو کښې ذخيره کړي دي.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٤٩﴾

بيشکه | په دے کښې | نخښه ده | تاسو دَ پاره | که چرے | يئ تاسو | ايمان راوړونکي .

يقيناً په دے کښې تاسو دَ پاره غټ دليل موجود دے که تاسو پرے يقين کوئ .

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ

او تصديق کوونکے | دَ هغه څهٔ چه | زمانه وړاندې دي | له تورات نه | او چه زهٔ حلال کړم | تاسو دَ پاره

او (څکه راغلے يم چه) دَ تورات تصديق وکړم چه زما نه وړاندې (نازل شوے) وو . او دے دَ پاره چه څنې هغه

بَعْضَ الَّذِيْ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ

څنې هغه (څيزونه) کوم چه | حرام کړے شوي وو | په تاسو | او ما راوړے ده تاسو ته | نخښه

څيزونه چه تاسو باندې حرام کړے شوي دُو حلال کړم او ما تاسو ته ستاسو دَ رب دَ طرف نه نخښه

مِّنْ رَّبِّكُمْ ۟ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿٥٠﴾ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ

ستاسو دَ رب دَ طرف نه | پس ووېرېږئ دَ الله نه | او زما حکم ومنئ | بيشکه | الله | زما رب

راوړے ده ، نو دَ الله نه ووېرېږئ او زما پيروي وکړئ . الله زما هم رب دے

وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٥١﴾ فَلَمَّآ اَحَسَّ

او ستاسو رب دے | نو عبادت وکړئ دَ هغهٔ | هم دا ده | لار ده | سمه | پس هر کله چه | محسوس کړو

او ستاسو هم رب دے نو دَ هغهٔ عبادت کوئ ، هم دا نيغه لار ده . نو هر کله چه عيسیٰ عليه السلام

عِيسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ قَالَ

عيسیٰ | د هغوی نه | انکار | (نو) ووئیل | څوک دی زما مدد ګاران | د الله د پاره | ووئیل

محسوس کړه چه بنی اسرائیل (زمانه) انکار کوی، نو هغه ووئیل چه د الله په لار کښے څوک زما امداد کوی؟ حواریانو ورته

الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ بِاَنَّا

حواریانو | مونږ یو | مدد ګاران د الله | مونږ ایمان راوړو | په الله | او ګواه شه ته | په دے چه مونږه

جواب ورکړو چه مونږ د الله (په لار کښے ستا) مدد ګار یو، مونږ په الله ایمان راوړے دے او ته په دے خبره ګواه اوسه چه

مُسْلِمُوْنَ ۝٥٢ رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا

فرمانبرداره یو | اے زمونږ ربه! | مونږه ایمان راوړو | په هغه څه چه | نازل کړو تا | او مونږ پیروی وکړه

مونږ د الله حکمونو ته غاړه ایښے ده. اے الله! څه چه تا نازل کړی دی زمونږ په هغے ایمان دے او مونږ د رسول پیروی

الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝٥٣ وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ ۭ

د رسول | پس ولیکه مونږه | د ګواهانو سره | او هغوی پټ تدبیر وکړو | او الله هم پټ تدبیر وکړو

کړے ده نو مونږ هم د ګواهانو په فهرست کښے ځان سره ولیکه. او بنی اسرائیلو (د عیسیٰ خلاف) پټ تدبیرونه وکړل او

وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ۝٥٤ اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ

او الله | بهتر دے | له ټولو تدبیر کوونکو نه | هرکله چه ووئیل | الله | اے عیسیٰ! | بیشکه زه ستا پوره پوره اخستونکیم

الله (د هغوی مخالف) تدبیر اختیار کړو او الله ډیر ښه تدبیر کوونکے دے. (هغه واقعه یاد کړه) کله چه الله وفرمائیل اے عیسیٰ زه به تا

وَرَافِعُكَ اِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ

او ستا اوچتونکے یم | خپل طرف ته | او پاکوونکے یم ستا | له هغه کسانو نه | چه کافر شول | او جوړوم به

واپس واخلم او خپل طرف ته به دې راوخیژوم او د کافرانو (د تهمت) نه به دې پاک کړم ، او ستا پیروی

الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ

هغه خلق (چه) | ستا پیروی کوی | غالب | په هغو باندې | چه کافر شول | د قیامت تر ورځے پورے

کوونکی خلق به تر قیامته پورے د منکرانو د پاسه کړم ، بیا ستاسو

ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ

بیا | زما طرف ته | ستاسو واپس راتلل دی | بیا به زه فیصله وکړم | ستاسو په مینځ کښے | په هغه څه کښے چه تاسو په هغے کښے

(ټولو) زما طرف ته واپس راتلل دی ، بیا به ستاسو په مینځ کښے د هغے خبرے فیصله وکړم په کومه کښے چه

تَخْتَلِفُوْنَ ۝٥٥ فَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَاُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا

اختلاف کولو | پس | هغه خلق چه | کافر دی | هغوی له به عذاب ورکړم | عذاب سخت

تاسو د یو بل سره اختلاف کولو. نو چا چه کفر غوره کړے دے ، هغوی له به په دنیا او آخرت دواړو کښے

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۡ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝٥٦ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

په دنیا کښے | او آخرت (کښے) | او نشته دے | د هغوی | څوک مدد ګار | لیکن | کوم خلق چه

سخته سزا ورکړم ، او هیڅوک به د هغوی امداد نه کوی. او چا چه ایمان

آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَاللّٰهُ

ایمان راوړی | او عملونه ئے وکړل نیک | پس پوره به ورکړی (الله) هغوئ | د هغوی اجرونه | او الله

داوړی او د نیکئ کارونه ئے وکړل نو هغوی له به الله پوره پوره اجرونه ورکړی ۔ او د الله

لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِينَ ۝٥٧ ذٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ الْآيٰتِ

دوست نه لری | ظالمان | دا | مونږ تلاوت کوو | په تا باندې | چه ایتونه دی

بے انصافه خلق خوښ نه دی ۔ (اے پیغمبره!) داچه مونږ تاته اوروو ، دا (مونږ) ایتونه او د

وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ ۝٥٨ إِنَّ مَثَلَ عِيسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ

او ذکر دے | حکمت والا | بیشکه | مثال | د عیسیٰ | د الله په نزد | په شان د مثال د آدم دے

حکمت نه ډک نصیحتونه دی ۔ د عیسیٰ علیه السلام مثال د الله په نزد د آدم علیه السلام په شان دے ۔

خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ۝٥٩

پیدائے کړو هغه | له خاورو نه | بیائے | ووئیل | هغه ته | (چه) شه | پس هغه شو ۔

الله هغه د خاورے نه پیدا کړو بیائے ورته ووئیل چه ژوندے شه نو هغه ژوندے شو ۔

الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ۝٦٠ فَمَنْ

دا (امر) حق دے | ستا د رب د طرف نه | پس مه کیږه ته | له شک کوونکو نه | پس څوک چه

دا ربښتینے حقیقت دے چه د الله تعالیٰ د طرف نه تاته بیان شوے نو په دے کښے شک مه کوه ۔ نو څوک چه

حَاجَّكَ فِيهِ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ

جګړه کوی تاسره | په هغه کښے | پس له هغه نه چه | راغلو تاته | علم | نو ووایه

تاسره په دے مسئله کښے د صحیح علم راتلو نه پس هم جګړه کوی نو ورته ووایه چه

تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ

راشئ | چه مونږ راوبلو | خپل ځامن | او ستاسو ځامن | او خپلے ښځے | او ستاسو ښځے

راشئ مونږ خپل ځامن راوبلو تاسو خپل ځامن ، مونږ خپلے ښځے راوبلو او تاسو خپلے ښځے

وَأَنْفُسَنَا وَأَنْفُسَكُمْ ۟ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللّٰهِ

او خپل ځانونه | او ستاسو ځانونه | بیا به په زارئ دعا وکړو | پس وُ به ګرځوو مونږ | لعنت | د الله

او مونږ خپله هم موجود یُو او تاسو هم موجود یئ بیا الله ته په عاجزئ سره دا دعا وکړو چه څوک دروغژن وی

عَلَى الْكٰذِبِينَ ۝٦١ إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلٰهٍ

په دروغژنو باندې | بیشکه | هم دا دے | بیان | ربښتونے | او نشته دے بل څوک معبود

په هغوی د الله لعنت ووروی ، دا بالکل ربښتینی واقعات دی ، او د الله نه سوا بل

إِلَّا اللّٰهُ ۚ وَإِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝٦٢ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللّٰهَ

سوا د الله نه | او بیشکه الله دے | غالب | خاوند د حکمت | پس که چرے هغوی مخ واړوو | نو بیشکه | الله

معبود نشته ۔ او بیشکه چه الله په هر څه غالب دے او په هر کار کښے حکمت لری ۔ نو که دوی (د مقابلے نه) مخ وګرځوی نو

عَلِيْمٌۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ

ښه پوهه دے | په تباکارو باندې | ووایه | اے اهل کتابو! | راشئ | د یوے خبرے طرف ته

الله ته فسادیان خلق ډیر ښه معلوم دی۔ (اے پیغمبره! دوی ته) ووایه چه اے اهل کتابو! راشئ چه په یوه خبره

سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ

چه برابره ده | په مینځ زمونږ کښے | او په مینځ ستاسو کښے | چه عبادت به نه کوو | سوا | د الله نه

(متفق شو) چه زمونږ او ستاسو ترمینځه برابره ده دا چه مونږ د الله نه سوا د بل چا عبادت نه کوو، نه

وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او شریک به نه جوړوو | د هغه | هیڅ څیز | او نه به جوړوی | ځینے زمونږه | نورو ځینو | پروردګاران | سوا د الله نه

د هغه سره شرک شریک جوړ کړو ، او نه له خدایه په خپل مینځ کښے یو بل ته رب نه وایو

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

پس که چرے هغوی مخ واړوی | نو ووایه | ګواهان اوسئ | په دے چه مونږ مسلمانان یو | اے اهل کتابو!

نو که هغوی ترے نه مخ واړوی نو تاسو وئ ته ووایئ چه تاسو ګواه وسئ چه مونږ خو فرمانبردار یو۔ اے اهل کتابو!

لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمَآ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ

ولے جګړه کوئ تاسو | د ابراهیم په حقله | او نه دی نازل شوے | تورات | او انجیل

تاسو ولے د ابراهیم په حقله (مونږ سره) جګړے کوئ؟ او تورات او انجیل دواړه خو د هغه نه پس نازل شوی

اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٥﴾ هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا

مګر | د هغه نه پس | آیا نه پوهیږئ تاسو | هله! تاسو خو | هغه خلق یئ | چه جګړه وکړه تاسو | په هغه خبره کښے

دی، آیا تاسو (دومره هم) نه پوهیږئ؟ په هغه مسئلو کښے خو تاسو بے جګړے وکړے په

لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ

د کومے چه تاسو ته علم وو | پس ولے جګړه کوئ تاسو | په هغه کښے | چه نشته دے تاسو ته | په هغے | پوهه

کومو چه تاسو (لږ ډیر) پوهیدئ، نو اوس په هغه مسئلو کښے ولے بحثونه کوئ چه تاسو ترے نه هیڅ خبر نه یئ، او

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا

او الله پوهیږی | او تاسو | نه پوهیږئ | نه وو | ابراهیم | یهودی

الله ډیر ښه پوهه دے او تاسو نه پوهیږئ۔ ابراهیم علیه السلام نه خو یهودی وو،

وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ وَمَا كَانَ

او نه نصرانی | لیکن (هغه خو) وو | په نیغه لاره | هم د الله حکم منونکے | او نه | وو

او نه نصرانی وو بلکه هغه حق پرست او فرمانبرداره بنده وو او هغه د

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦٧﴾ اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ

له شرک کوونکو نه | بیشکه | د ټولو خلقو نه ډیر نزدے | ابراهیم ته | هغه خلق وو

مشرکانو نه نه وو ۔ بیشکه ابراهیم علیه السلام ته د ټولو نه نزدے هغه خلق دی چا چه

اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِیُّ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ

چا چه دَ هغهٔ پیروی کړې وه | او دا نبی (محمد ﷺ) | او هغو چه ایمان راوړی دی | او الله

دَ هغهٔ پیروی وُکړه، او دا پیغمبر او ټول مؤمنان وړ ته نژدې دی. او الله تعالیٰ

وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿٦٨﴾ وَدَّتْ طَّآىِٕفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ یُضِلُّوْنَكُمْ ؕ

دوست دی دَ مؤمنانو | غواړی | ځنې خلق | له اهل کتابو نه | چه کاش هغوی تاسو ګمراه کړی

دَ مؤمنانو ملګری دے. دَ اهل کتابو یو ټولے غواړی چه د په څه چل) تاسو ګمراه کړی (حال دا دے چه

وَمَا یُضِلُّوْنَ اِلَّاۤ اَنْفُسَهُمْ وَمَا یَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ

او نهٔ | بے لارې کوی هغوی | مګر | خپل ځانونه | او هغوی نهٔ پوهیږی | اے اهل کتابو!

هغوی دَ هغه شان) صرف خپل ځانونه ګمراه کوی او په دے هم نهٔ پوهیږی. اے اهل کتابو!

لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ

ولے انکار کوئی تاسو | دَ الله دَ اٰیتونو نه | او تاسو | ګواه یئی | اے اهل کتابو!

تاسو ولے دَ الله دَ اٰیتونو نه انکار کوئی سره دَ دے چه تاسو (دَ دے په صداقت باندے) ګواه یئی. اے اهل کتابو!

لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٧١﴾ ع ٨ ١٥

ولے ګډ وډ کوئی | حق | دَ باطل سره | او پټوئ | حق | او تاسو پوهه یئی.

تاسو حق او باطل په خپل مینځ کښے ولے ګډ وډ کوئی او سره دَ علم حق پټوئ.

وَقَالَتْ طَّآىِٕفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِیْۤ اُنْزِلَ

او وُوئیل | یو ډلے | دَ اهل کتابو نه | (چه) ایمان راوړئی | په هغه څه چه | نازل شوی دی

او دَ اهل کتابو یو ټولی وُوئیل، چه په مسلمانانو باندې کوم (کلام) نازل

عَلَی الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْۤا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ

په مسلمانانو | په اول دَ ورځ کښے | او انکار وُکړئی | په اٰخر دَ ورځ کښے | چه هغوی

شوے دے، په هغے باندې دَ سحر وخت کښے ایمان راوړئی او ماښام ترے بیا انکار وُکړئی. ممکنه ده چه

یَرْجِعُوْنَ ﴿٧٢﴾ ۚۖ وَلَا تُؤْمِنُوْۤا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِیْنَكُمْ ؕ قُلْ

را وګرځی | او مهٔ | یقین کوئ | مګر | دَ هغه چا چه | پیروی کوی | ستاسو دَ دین | وُوایه

(هغه مسلمانان ستاسو په دے چل سره دَ خپل دین نه) واوړی او صرف دَ هغه خبره منئ چه ستاسو دَ دین پیروی کوونکے دی. ته

اِنَّ الْهُدٰی هُدَی اللّٰهِ ۙ اَنْ یُّؤْتٰۤی اَحَدٌ مِّثْلَ مَاۤ اُوْتِیْتُمْ

بیشکه | هدایت (خو) | دَ الله هدایت دے | دا چه ورکړے شی | چا ته | په شان | دَ هغه څه چه درکړے شوی دی تاسو ته

وُوایه چه اصل هدایت خو دَ الله هدایت دے (دا انکار تاسو بیهوده دَ حسد په وجه کوئی) چه بل چا ته هم هغسے دین

اَوْ یُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِیَدِ اللّٰهِ ۚ

یا هغوی جګړه وُکړی تاسو سره | ستاسو دَ رب په نزد | وُوایه | بیشکه | بزرګی | دَ الله په لاس کښے ده

ورکړے شی څنګه چه تاسو ته درکړے شوے دے یا دا چه دوی دا مسلمانان) په تاسو دَ الله په وړاندې غالب راشی؟ او هم وُوایه چه فضل خو دَ الله

يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ

ورکوی هغه | چاته چه وغواړی | او الله | ډیر وسعت والا | علم والا دے | مخصوص کوی | په خپل رحمت سره

په لاس کښے دے، چاله چه غواړی ورکوی، او الله لوئے وسعت او لوئے علم والا دے. هغه چه د چا په حقله دغواړی نو

مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ

څوک چه وغواړی | او الله | د لوئے فضل خاوند دے | او د اهلِ کتابو نه (څخه)

خپل رحمت ورپورے خاص کړی او د الله فضل ډیر لوئے دے . او په اهلِ کتابو کښے داسے (امانت گرهم)

مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ ۚ وَمِنْهُمْ

داکسی دی چه که ته ئے امانت گر کړے هغه | په خزانه | (نو) ادا به کړی هغه | تا ته | او څخه له هغوی نه

شته که ته ورسره د مال یو ډیر امانت کیږدے نو هم به ئے درته پوره پوره درکړی او څوک په کښے داسے (بے اعتبار)

مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ إِلَّا

هغه کس دے چه که ته ئے امانت گر کړے ته هغه | په یو دینار | نو هغه به ادا نه کړی | تا ته | مگر (دا چه)

دی چه که د یو اشرفئ اعتبار ئے وکړے نو تر هغې به ئے نه درکوی ترڅو چه هر وخت ورته

مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَيْسَ عَلَيْنَا

ته یئے (د) هغه (په سر) باندے | ولاړ | دا | ځکه چه هغوی | وائی | نشته دے | په مونږ باندے

د سر د پاسه ولاړ نه ئے. دا ځکه چه د هغوی دا خیال دے چه د امیانو (د عربو مشرکانو) په حقله په

فِي الْأُمِّيِّينَ سَبِيلٌ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ

د امیانو په حقله | (څه) گناه | او وائی هغوی | په الله باندے | دروغ | او هغوی

مونږ نه هیڅ تپوس پوښتنه نه کیږی، او (په داسے ویلو) هغوی په الله باندے غټ دروغ وائی او ښه

يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ بَلَىٰ مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ وَاتَّقَىٰ فَإِنَّ اللَّهَ

پوهه دی | هنه! | څوک چه | پوره کوی | خپله وعده | او پرهیزگاری کوی | نو بیشکه | الله

پرے پوهیږی. هنه! هر څوک چه خپله وعده پوره کوی او د الله نه ویریږی نو یقین ساته چه الله

يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٧٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ

خوښوی | پرهیزگاران | بیشک | هغه خلق چه | اخلی | د الله په وعده | او د خپلو قسمونو بدله کښے

داسے پرهیزگاران خوښ وی. بیشکه څوک چه د الله سره کړے وعدے او خپل قسمونه په لږو پیسو

ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ

قیمت | لږ | هم دا (خلق) دی | د کوم چه په څه برخه نه وی | په آخرت کښے | او نه به خبرے کوی هغوی سره

خرڅ کړی، نو د هغوی دپاره په آخرت کښے هیڅ برخه نشته ، او الله تعالیٰ به

اللَّهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ

الله | او نه به وگوری | هغوی ته | په ورځ د قیامت | او نه به پاک کړی هغوی | او هغوی دپاره دے

د قیامت په ورځ ورسره خبرے نه کوی او نه به ورته گوری او نه به ئے (د گناهونو نه) پاک کړی او د هغوی

عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۷۷﴾ وَاِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِیْقًا یَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ

عذاب | دردناک | او بیشکه | دَ هغوی نه | یو ټولے دے | چه تاوَوی | ژبے

دَ پاره دردناک عذاب دے. او په دوی کښے یوه ډله داسے هم شته چه دَ کتاب لوستلو په وخت کښے پرے ژبه

بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ

دَ کتاب (په لوستلو) | چه تاسو وګنړئ دَ هغوی وینا | له کتاب نه | او نه دَه | هغه (حصه) | دَ کتاب

تاؤ راتاؤ کړی چه تاسو ګمان وکړئ چه هم کتاب وائی ، او هغه دَ کتاب خبره نه وی

وَیَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَیَقُوْلُوْنَ

او وائی | (چه) دا دَ الله دَ طرف نه دے | او نه دے هغه | دَ الله دَ طرف نه | او وائی

او هغوی وائی چه (مونږ څه وایو) هغه دَ الله دَ طرف نه راغلے خبره ده او (په حقیقت کښے) دَ الله دَ طرف نه راغلے نه وی او

عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ یَعْلَمُوْنَ ﴿۷۸﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ یُّؤْتِیَهُ اللّٰهُ

په الله باندے | دروغ | او هغوی | پوهیږی | نشته (حق) | دَ یو بشر | چه ورکړی هغه ته | الله

هغوی په الله باندے سره دَ علمه دروغ تړی. دَ هیڅ بنیادم دا کار نه دے چه الله خو ورله روح

الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ یَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا

کتاب | او حکم | او پیغمبری | بیا هغه وائی | خلقو ته | (چه) شئ

کتاب ، ښه حکومه ، او پیغمبری ورکړی ، او بیا هغه دِ خلقو ته وائی چه تاسو دَ الله په ځائے

عِبَادًا لِّیْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِیّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ

زما بندګان | سوا دَ الله نه | لیکن (هغه خو به وائی) | شئ تاسو خدائی خلق | په سبب دَ هغے چه تاسو زده کوئ خلقو ته

زما بندګان شئ ، بلکه هغه خو به دا وائی چه تل په رښتیا خدائی خلق شئ لکه څنګه چه دا کتاب ښائی کوم

الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَا یَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا

کتاب | او په سبب دَ لوستلو ستاسو دَ هغے | او نه به هغه تاسو ته حکم درکوی | چه جوړ کړئ

چه تاسو نورو خلقو ته هم ښائی او په خپله ئے هم لولئ. او هغه په دے تاسو ته دا نه وائی چه فرښتے

الْمَلٰٓىِٕكَةَ وَالنَّبِیّٖنَ اَرْبَابًا ؕ اَیَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾ ع ۸ ۹ ۱۶

فرښتے | او نبیان | پروردګاران | آیا حکم به کوی تاسو ته | دَ کفر | پس دَ هغے نه چه تاسو شوی یئ مسلمانان

او پیغمبران په خدائی ونیسئ - دا کله کیدے شی چه یو پیغمبر دِ تاسو ته دَ اسلام راوړلو نه پس دَ کفر کولو حکم

وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِیْثَاقَ النَّبِیّٖنَ لَمَآ اٰتَیْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ

او هر کله چه واخستلو الله | پخه وعده | دَ نبیانو نه | څه چه ما درکړل تاسو ته | له کتاب نه

درکوی ، او یاد کړه چه الله دَ پیغمبرانو نه وعده اخستے ده ، چه اوس ما تاسو ته کتاب او حکمت درکړے

وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ

او حکمت نه | بیا راشی تاسو ته | څوک رسول | چه تصدیق وکړی | دَ هغه (کتاب) | کوم چه تاسو سره دے

دے. نو چه بیا یو بل پیغمبر راشی چه ستاسو دَ تعلیم تصدیق کوی ، نو تاسو

ے یعني د تورات ۱۲

لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ

تو خامخا به (ایمان) راوړئ په هغه باندې | او خامخا به د هغه مدد کوئ | وې فرمايل | آيا تاسو اقرار کړے دے؟ | او قبول کړه تاسو

به خامخا په هغه ایمان راوړئ او خامخا به د هغه امداد کوئ (بیا) الله تعالیٰ وفرمايل آيا تاسو اقرار کوئ او زما

عَلٰی ذٰلِکُمْ اِصْرِیْ ؕ قَالُوْۤا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ

په دے باندې | زما وعده | هغوی ووئیل | مونږ اقرار وکړو | وې فرمايل | نو اوس گواه اوسئ | او زه هم تاسره

دا وعده قبلوئ؟ هغوی ووئیل مونږ اقرار کوو الله تعالیٰ وفرمايل تاسو (یو بل ته) گواه اوسئ او

مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿٨١﴾ فَمَنْ تَوَلّٰی بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾

په گواهانو کښے یم | بیا څوک چه مخ واړوی | د دے نه پس | پس هم دا خلق | نا فرمانه دی۔

زه هم تاسو سره په گواهانو کښے یم۔ بیا څوک چه د دے نه پس هم مخ واړوی نو هم داسے خلق نا فرمانه دی

اَفَغَیْرَ دِیْنِ اللّٰهِ یَبْغُوْنَ وَلَهٗۤ اَسْلَمَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ

بیا آیا د الله د دین نه سوا (بل دین) | دوی غواړی | او د هغه فرمانبردار دی | څوک چه په آسمانونو

نو آيا د الله تعالیٰ د دین نه سوا دوی څه بل لاره غواړی؟ حال دا دے چه د آسمانونو او د مزکو ټول مخلوق

وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّاِلَیْهِ یُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ قُلْ اٰمَنَّا

او زمکه کښے دی | په خوښه | او نا خوښه | او د هغه طرف ته به | هغه ټول ورگرځولے شی | ووایه | مونږ ایمان راوړو

په خوښئ یا په زور د هغه تابع دی او ټول به آخر هغه ته ورگرځی۔ (اے پیغمبره!) ووایه چه مونږ خو

بِاللّٰهِ وَمَاۤ اُنْزِلَ عَلَیْنَا وَمَاۤ اُنْزِلَ عَلٰۤی اِبْرٰهِیْمَ وَاِسْمٰعِیْلَ

په الله | او په هغه څه | چه نازل شوی | په مونږ | او په هغه باندې چه نازل شوی | په ابراهیم | او اسماعیل

په الله ایمان راوړے دے او کوم چه په مونږ نازل کړے شول په هغه باندې او څه چه په ابراهیم، اسماعیل

وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَاۤ اُوْتِیَ مُوْسٰی وَعِیْسٰی

او اسحاق | او یعقوب | او د هغه په اولاد باندې | او په هغه باندې چه ورکړے شول | موسیٰ | او عیسیٰ

اسحاق، یعقوب او د هغه په اولاد باندې نازل شول او څه چه موسیٰ، عیسیٰ او

وَالنَّبِیُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۪ لَا نُفَرِّقُ بَیْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۫ وَنَحْنُ

او نورو پیغمبرانو ته | د هغوی د رب د طرف نه | فرق نه کوو مونږ | په مینځ د هیڅ یو کس کښے | له هغوی نه | او مونږ

نورو پیغمبرانو ته د هغوی د رب د طرف نه ورکړے شول (مونږ په ټولو ایمان ساتو) مونږ په هغوی کښے یو د بل نه جدا نه کنړو

لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ

هم د هغه حکم منونکی یو | او څوک چه غواړی | سوا د اسلام نه | بل دین | پس هیڅ کله به قبول نه کړے شی

او د الله هر حکم ته مو غاړه ایښے ده او څوک چه د اسلام نه سوا بل دین اختیاروی نو د هغه دغه دین به

مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِی الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿٨٥﴾ كَیْفَ یَهْدِی اللّٰهُ

د هغه نه | او هغه به | په آخرت کښے | نقصان مونکو نه (وی) | څنگه به | هدایت کوی | الله

هیچرے قبول نه کړے شی او هغه به په آخرت کښے تاوان ګالونکی وی۔ دا څنگه کیدے شی چه الله تعالیٰ به هغه خلقو

كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ

دا سې خلقو ته | چه کافران شول | پس له هغوی د ایمان راوړلو نه | او هغوی ګواهي ورکړه | چه | (دا) رسول | برحق دے

ته هدایت وکړی چا چه د ایمان راوړلو نه پس بیا کفر اختیار کړو او کومو چه اقرار کړے وو چه رسول برحق دے

وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۶﴾

او راغلی دی دوی ته | واضح دلیلونه | او الله | هدایت نه کوی | قوم | د ظالمانو ته

او څرګند دلیلونه ورته هم راغلل او الله تعالیٰ ظالمانو خلقو ته هدایت نه کوی۔

اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۷﴾

هم د دا سې خلقو سزا داده | چه په هغوی دی | لعنت | د الله | او د فرښتو | او د ټولو خلقو

د دا سې خلقو سزا هم داده چه په هغوی باندې د الله، فرښتو او د ټولو خلقو لعنت دی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۸﴾

همیشه به دی هغوی | په هغې کښې | نه به شي سپکولے | له هغوی نه | عذاب | او نه به هغوی ته مهلت ورکړے شي

هم په دې کښې به هغوی همیشه وی او د هغوی په عذاب کښې به هیڅ کے نه دی او نه به ورته مهلت ورکولے شي

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۟ فَاِنَّ

مګر | کومو چه | توبه وکړه | پس له دے نه | او نیک کارونه ئې وکړل | او بیشکه

هو! کومو خلقو چه د دے نه پس توبه وکړه او د خپل ځان اصلاح ئې وکړه نو الله

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۸۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ

الله | معافی کونکے | مهربان دے | بیشکه | هغه خلق چه | کافر شول | پس د خپل ایمان راوړلو نه

بخښونکے مهربان دے۔ چا چه د ایمان راوړلو نه پس کفر خوښ کړو، بیا په کفر

ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

بیا | زیات شول هغوی | په کفر کښې | هیڅ کله به قبوله نه کړے شي | توبه د هغوی | هم هغه دی

کښې مخ په وړاندې لاړل نو د هغوی توبه به هیڅ کله نه قبلیږی۔ او هم دغه

هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ

ګمراهان | بیشکه | کوم خلق چه | کافر شول | او مړه شول | او هغه | هم کافران وو

کسان ګمراهان دی یقیناً چا چه کفر اختیار کړو او د کفر په حالت کښې مړه شول

فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى

نو هیڅ کله به قبول نه کړے شي | له هیڅ یو کس د هغوی نه | په مقدار د ډکوالی د زمکے | سره زر | او اګرچه | په فدیه کښې ورکول وغواړي

نو که په هغوی کښې یو یو تن تول زمکه د سرو زرو نه ډکه کړی او د فدیې په طور ئې پیش کړی نو هم به قبول نه

بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۹۱﴾ ع ۹ ۱۱ ۱۷

هغه | هم دا خلق دی | د کومو د پاره | چه به عذاب | دردناک دی | او نه به وی د هغوی | څوک مدد ګار

نه شي، د هغوی د پاره دردناک عذاب مقرر دے او هیڅوک به ئې امداد نه کوی۔

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ؕ

خوښوئ ئې تاسو | له هغه څه نه چه | چه تاسو خیرات کړئ | ترڅو پورې | نیکي | هیڅ کله به حاصل نه کړئ تاسو

تاسو (پوره) نیکي هیڅکله حاصلولې نه شئ ترڅو چه تاسو خپل غوره شیزونه خیرات نه کړئ

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ﴿۹۲﴾ كُلُّ الطَّعَامِ

ټول دَ خوراک (شیزونه) | پوهه دے | په هغې باندې | الله | نو بیشکه | دَ څه شیز نه | او هغه څه چه خرڅ کوئ

او هر شیز چه تاسو خیرات کوئ نو هغه الله ته ښه معلوم دی۔ دَ خوراک ټول شیزونه (چه

كَانَ حِلًّا لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسْرَآءِیْلُ عَلٰی نَفْسِهٖ

په خپل ځان باندې | (یعنې) یعقوب | مګر کوم چه حرام کړے وو | بنی اسرائیلو دَ پاره | دُو | حلال

مسلمانانو له حلال دي هغه) بنی اسرائیلو له هم حلال وو مګر کوم شیزونه چه یعقوب په خپله په ځان حرام کړی وو۔

مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَاۤ

پس وُئې لولئ | تورات | راوړئ | ووایه | تورات | چه نازل کړے شوے وو | وړاندې (دَ دې نه)

او (داخبره) دَ تورات نازلیدو نه وړومبې (شوې وه) درته ووایه چه ښه ده تورات راوړئ او هغه ولولئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ

دروغ | په الله باندې | وُتړی | پس څوک چه | رښتیا ویونکي | یئ تاسو | که چرې

که تاسو رښتینې یئ ؟ دَ دې نه پس هم چه څوک په الله تعالیٰ باندې

مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ؕ

الله | رښتیا وُوئیل | ووایه | ظالمان | پس هم دغه دی | پس له دے نه

دروغ وُتړی ، هم دغه ظالمان دی (اے پیغمبره!) ووایه چه الله (څه وئیلی دی) رښتیا

فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۹۵﴾

له مشرکانو نه | او نه وو | چه حنیف وو | دَ ملت دَ ابراهیم | پس پیروی وُکړئ

ئې وئیلی دی پس تاسو د ابراهیم دَ طریقې پیروی وُکړئ چه حق پرست وو او دَ مشرکانو نه نه وو۔

اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا

برکت والا | په مکه کښې دے | هم هغه دے چه | خلقو دَ پاره | چه مقرر کړے شوے وو | کور | وړومبے | بیشکه

بیشکه دَ ټولو نه وړومبے عبادت ګاه چه دَ خلقو دَ پاره مقرر شوے ده کوم چه په مکه کښې ده دَ برکت ځائے دے

وَّهُدًی لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۶﴾ فِیْهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِیْمَ ۚ

ځائے دَ اودریدو دَ ابراهیم | ښکاره | نخښې دی | په دې کښې | دَ جهان خلقو دَ پاره | او هدایت دے

او خلقو دَ پاره دَ هدایت (مرکز) دے۔ په دې کښې څرګندے نخښې دی دَ ابراهیم علیه السلام (دَ عبادت) ځائے دے

وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَلِلّٰهِ عَلَی النَّاسِ حِجُّ الْبَیْتِ

دَ بیت الله | حج | په خلقو باندې (فرض دے) | او دَ الله دَ پاره | نو هغه شو په امن کښې | او څوک چه داخل شو په دې کښې

او چه څوک ورننوځی هغه په امن شی او دَ الله په خلقو باندې دا حق دے چه دَ دے کور زیارت د کوی

مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ

څوک چه | طاقت لري | دَ دے طرف ته | دَ تللو دَ لارے | او څوک چه | انکار وکړي | نو بيشکه | الله | بے پرواه دے

څوک چه دَ لارے توفيق لري۔ او څوک چه انکار وکړي نو ډهغه ته دِ معلومه وي چه) الله

عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٧﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ

له عالمونو نه | ووايه | اے اهلِ کتابو ! | ولے انکار کوئ | دَ ايتونو

دَ خلقو نه بے نيازه دے۔ (اے پيغمبره !) ووايه چه اے اهلِ کتابو! تاسو ولے دَ الله دَ حکمونو نه انکار

اللّٰهِ ۖۚ وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٨﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

دَ الله | او الله | ګواه دے | څه چه تاسو کوئ | ووايه | اے اهل کتابو !

کوئ حالانکه الله ستاسو په ټولو کارونو ګواه دے چه تاسو ئے کوئ۔ ته ورته ووايه چه اهل کتابو!

لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ تَبْغُوْنَهَا

ولے منع کوئ تاسو | دَ الله دَ لارے نه | هغه څوک چه ايمان ئے راوړے | تاسو غواړئ هغه

تاسو ولے دَ ايمان خاوندان دَ الله له لارے نه منع کوئ کږليچونه په کښے راوباسئ، سره دَ دے

عِوَجًا وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٩﴾

کږ ول | او تاسو | ګواه يئ | او نه دے | الله | بے خبره | دَ هغے نه | چه تاسو کوئ

چه تاسو ځپله (دَ هغے دَ حق کيدلو) ګواهان يئ۔ او الله ستاسو دَ کارونو نه غافل نه دے۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

اے | دَ ايمان خاوندانو! | که چرے خبره ومنئ تاسو | دَ يوې ټولي | دَ هغو خلقو نه | (چا ته چه) ورکړے شوے کتاب

اے مسلمانانو! | که تاسو دَ دے کتابيانو دَ يو ټولي خبره ومنله نو دَ ايمان راوړو

يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ ﴿١٠٠﴾ وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ

نو هغوئ به تاسو بيا واپس کړي | ستاسو دَ ايمان راوړو نه پس | کفر ته | او څنګه | تاسو انکار کوئ

نه پس به مو بيرته کفر ته بوځي۔ او س به تاسو کفر څنګه خوښ کړے شئ؟ اوس

وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ؕ

او ستاسو حال دا دے چه لوستلے شي | په تاسو | ايتونه دَ الله | او ستاسو په مينځ کښے | دَ هغه رسول دے

خو تاسو ته دَ الله تعالیٰ ايتونه اورولے شي، او دَ هغه پيغمبر ستاسو په مينځ کښے موجود دے۔

وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٠١﴾ ع ١٠ ١

او څوک چه | مضبوطي سره ونيسي | الله | پس بيشکه | هدايت وکړے شو هغه ته | په طرف دَ لارے سمے۔

او چا چه دَ الله تعالیٰ په دين منګلے ولګولے نو هغه سمه لار بيا موندله۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ

اے | مؤمنانو ! | ووېرېږئ | دَ الله نه (لکه چه) حق دے | دَ هغه نه دَ وېريدو | او تاسو مه مرئ

اے مؤمنانو! دَ الله نه داسے وېره کوئ څنګه چه دَ وېريدلو حق دے او چه مرګ درله رانشي

إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا

مګر | چه یئ مسلمانان | او (مضبوطه) ونیسئ | رسۍ | د الله | ټول

خو په داسې حالت کښې چه تاسو مسلمانان یئ. او ټول په شریکه د الله رسۍ په مضبوطۍ سره ونیسئ.

وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً

او مه | جُدا جُدا کیږئ | او یاد کړئ | نعمت د الله | (چه هغه) په تاسو (وکړو) | هرکله چه تاسو وئ | دښمنان یو تر بله

او جلا جلا مه کیږئ، او د الله چه په تاسو کوم انعامات دي هغه یاد کړئ کله چه تاسو د یو بل دښمنان وئ

فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا

بیا هغه محبت واچولو | په مینځ د زړونو ستاسو کښې | پس شوئ تاسو | د هغه په مهربانۍ سره | ورونړه د یو بل

بیا هغه ستاسو په زړونو کښې محبت واچولو او د هغه په مهربانۍ تاسو ورونړه ورونړه جوړ شوئ

وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ

او وئ تاسو | په غاړه | د کندې | د اور | بیا ئې بچ کړئ تاسو | له هغې نه | دغه شان

او تاسو د اور د کندې په غاړه ولاړ وئ، نو الله ترې نه خلاص کړئ دغه شان الله

يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾ وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ

بیانوي | الله | تاسو له | خپل آیتونه | د پاره د دې چه تاسو لار بیا مومئ | او پکار ده چه وي | له تاسو | یوه ډله

تاسو ته خپلې نخښې نښانې بیانوي، چه تاسو په سمه لار باندې پاتې شئ. په تاسو کښې خامخا یو ټولی داسې

يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ۚ

چه بلي | د نیکۍ طرف ته | او حکم کوي | د ښو کارونو | او منع کوي | له بدو کارونو

پکار دې چه خلق نیکۍ طرف ته رابلي او وړ ته د ښو کارونو حکم کوي او د بدو کارونو نه ئې منع کوي

وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا

او هم هغه دي | کامیاب | او مه کیږئ | په شان د هغو خلقو | چه فرقه فرقه شول

او هم داسې خلق به کامیاب وي. او د هغو خلقو په شان مه کیږئ چه په خپل مینځ کښې ډلې ډلې شول

وَاخْتَلَفُوا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ

او اختلاف ئې وکړو د یو بل سره | پس له دې نه (چه) | راغلل هغوی ته | (روښانه) دلیلونه | او هم دا (خلق) دي | د کوم د پاره چه

او د څرګندو دلیلونو راتلو نه پس په اختلافونو کښې اخته شول او هم د داسې خلقو د پاره ډیر

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ

(به) عذاب (وي) | ډیر لوئې | په کومه ورځ چه | به سپین وي | څه مخونه | او تور به وي | څه مخونه

لوئې عذاب مقرر دې، په کومه ورځ چه به څه مخونه روښانه وي او څه به تک تور شي نو د

فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ

لیکن هغه خلق | د کومو چه به تور شي | مخونه د هغوی | آیا تاسو انکار وکړو | پس له ایمانونو خپلو نه

هغو خلقو د کومو مخونه چه به تک تور شي (هغوی ته به ووئیلے شي) آیا تاسو ایمان راوړو نه پس بیا کفر اختیار کړے

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ
پس وڅکئ | عذاب | په بدل د هغې کښې چه تاسو به کفر کولو | لیکن هغه خلق چه | روښانه به وی
دو ، او س د خپل کفر په سزا کښې د عذاب خوند وڅکئ . او هغه خلق د کوم مخونه چه به روښانه
وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ
مخونه د هغوی | پس (هغوی) د الله رحمت کښې به وی | (چه) هغوی به په دې کښې همیشه وی | دا | آیتونه
وی هغوی به د الله د رحمت په سیوری کښې وی او په دې کښې به همیشه وی ، دا د الله حکمونه دی
اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۸﴾
د الله دی | چه تلاوت کوو مونږ د هغې | په تا باندې | په حق سره | او الله نه غواړی | ظلم کول | په خلقو
چه مونږ ئې تا ته ټیک ټیک اورَوُو . او الله په مخلوقاتو باندې ظلم کول نه غواړی .
وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۱۰۹﴾ ع
او الله د پاره دی | هغه څه چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څه چه په زمکه کښې دی | او د الله طرف ته به | بیرته ګرځولے شی ټول کارونه
او هر څه چه په آسمانونو او په زمکه کښې دی هغه ټول د الله دی . او ټول معاملے به آخر الله ته پیش کیږی .
كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ
یئ تاسو بهترین اُمّت | چه بهر ته راویستلے شوی یئ | د خلقو د پاره | تاسو حکم کوئ | د نیکو کارونو | او منع کوئ
(اے مسلمانانو) تاسو بهترین قوم یئ کوم چه د خلقو (د هدایت) د پاره پیدا کړے شوی یئ تاسو خلقو ته د نیکئ حکم کوئ
عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا
د بدو کارونو نه | او ایمان راوړئ | په الله | او که چرې | ایمان راوړے | اهل کتابو (هم) | خامخا به ډیره بهتره وه
او د بدو کارونو نه ئې منع کوئ او په الله باندې یقین لرئ ، او که اهل کتابو هم ایمان راوړے وے نو د هغوی د پاره به ډیره
لَّهُمْ ؕ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ
هغوی د پاره | ځینې له هغوی نه | مسلمانان دی | او اکثر په هغوی کښې | نافرمانه دی | هیڅ کله به نه شی ورسولے هغوی تاسو ته
غوره وه ، په هغوی کښې ځینې خو ایماندار دی خو اکثر په کښې فاسقان دی . هغوی تاسو ته هیڅ ضرر نه شی
اِلَّآ اَذًى ؕ وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ ۣ
مګر څه لږ خفګان | او که چرې هغوی تاسو سره جنګ وکړی | نو وبه ګرځوی تاسو ته | شا ګانے
رسولے فقط تنګول کوی . او که تاسو سره جنګ شروع کړی نو زر به در ته شاګانے وښائی . او بیا به
ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَ مَا ثُقِفُوْٓا اِلَّا
بیا به هغوی ته مدد ورنه کړے شی | وغورځولے شو | په هغوی باندې | ذلت | هر ځائے کښې چه هغوی بیا موندے شی | مګر
هیڅوک د هغوی امداد ونه کړی . په دې خلقو باندې هر ځائے کښې چه بیا مومئ ذلت مسلط وی ، هغ که
بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ
په ذمه واری کښې | د الله د طرف نه | او په ذمه واری کښې | د خلقو د طرف نه | او هغوی راغلل په غضب کښې | د الله
چرې د الله په پناه کښې او د خلقو په پناه کښې وی او هغوی د الله په غضب کښې ګیر شوی دی .

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ

وُ وهلے شوه | په هغوی باندې | محتاجي | دا | ځکه چه هغوی | انکار کولو

او محتاجي پرے راغوړ یې لے ده ـ دا په دے وجه چه هغوی دَ الله تعالیٰ دَ حکمونو نه

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِيَاۗءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا

دَ ایتونو دَ الله | او وژل به هغوی | پیغمبران | په ناحقه | دا په دے وجه | (چه) هغوی نافرماني کوله

انکار کولو او پیغمبران علیهم السلام به ئے په ناحقه وژل ، دَ دے وجه دا وه چه هغوی نافرماني

وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۝۱۱۲ لَيْسُوْا سَوَاۗءً ۭ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَاۗىِٕمَةٌ

او دَ حد نه به تیریدل | هغوی ټول برابر نه دی | دَ اهل کتابو نه | یوه ډله ده ولاړه

کړے وه او دَ حد نه وړاندې تیرشوی وو ـ ټول اهل کتاب برابر نه دی په هغوی کښے یو ټولے په حق (مضبوط) ولاړه

يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَاۗءَ الَّيْلِ وَھُمْ يَسْجُدُوْنَ ۝۱۱۳ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

لولي | دَ الله ایتونه | دَ شپے په وختونو کښے | او هغوی | سجدے کوی | هغوی ایمان راوړی | په الله

دَ شپے په وخت کښے هم دَ الله ایتونه لولي او هغوئ ته سجده کوی ـ په الله تعالیٰ او په آخرت

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

او په ورځ | دَ اخرت | او حکم کوی | دَ نیکو کارونو | او منع کوی | دَ بدو کارونو نه

باندې یقین لری او خلقو ته دَ نیکئ حکم کوی ، او دَ بدو کارونو نه ئے منع کوی

وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝۱۱۴ وَمَا يَفْعَلُوْا

او تلوار کوی | په نیکو کارونو کښے | او هم دا (خلق) دی | دَ نیکانو نه | او هغوی څه چه کوی

او په نیکو کارونو کښے دَ یو بل نه وړاندې کیږی او دغه کسان دَ نیکانو په ټولی کښے شمیر دی ـ او (دا خلق) چه

مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ۝۱۱۵ اِنَّ

دَ نیکئ نه | هیڅکله به محروم نه کړے شي هغے (دَ اجر) نه | او الله | ښه پوهه دے | په پرهیزګارانو | بیشکه

هر یوه نیکی وکړی نو دَ هغے ناقدري به هیچرے نه کیږی او الله پرهیزګاران خلق ښه پیژنی ـ بیشکه چا چه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ عَنْھُمْ اَمْوَالُھُمْ وَلَآ اَوْلَادُھُمْ مِّنَ اللّٰهِ

کوم خلق چه | کافران دی | هیڅ کله به کار ونه کړی هغوی ته | دَ هغوی مال | او نه | دَ هغوی اولاد | دَ الله سره

کفر غوره کړے دے دَ الله دَ عذاب په مقابله کښے به نه دَ هغوی مالونه او نه دَ هغوی اولاد څه په کار

شَيْــــًٔا ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ ھُمْ فِيْھَا خٰلِدُوْنَ ۝۱۱۶ مَثَلُ مَا

هیڅ هم | او هم دا (خلق) دی | دوزخیان | هم هغوی به په دے کښے | همیشه وی | مثال دَ هغے کوم چه

راشي او دا دوزخیان دی په دے کښے به همیشه پراته وی ـ کوم مالونه چه دوئ

يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْھَا صِرٌّ اَصَابَتْ

هغوی خرڅ کوی | دَ دے دنیا په ژوند کښے | په شان دَ هغه | هوا دے | چه په هغے کښے سخته یخني ده | چه ورسید و

(دَ اسلام برخلاف) دَ دنیا په دے ژوند کښے لګوی دَ هغے مثال دَ هغه باد په شان دے چه په کښے سخته یخني وی او دَ هغه چا په

حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ

فصل ته | د یو قوم | چا چه ظلم کړے وو | په خپلو ځانونو | بیا ئے هغه برباد کړه | او نه دے ظلم کړے په هغوی | الله

فصلونو پریوځی چه په ځان ئے ظلم کړے وی نو فصل ورله تباه کوی ۔ او الله په هغوی هیڅ ظلم نه

وَلَٰكِنْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَّخِذُوا

لیکن | هغوی په خپلو ځانونو | (پخپله) ظلم کوونو | اے د ایمان خاوندانو! | مه جوړوئ

دے کړے بلکه هغوی پخپله په خپل ځان زیاتے کړے دے۔ اے مؤمنانو ! د مسلمانانو نه علاوه

بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ

رازدار (خوږ) | سوا د خپلو نه | هغوی کے نه کوی تاسو ته | نقصان (رسولو) کښے | هغوی غواړی | چه تاسو ته تکلیف وی

نورو خلق خپل رازدار کوئی مه، هغوی ستاسو په بربادولو کښے هیڅ کوتاهی نه کوی، هغوی هغه خبره خوښوی په

قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ أَفْوَٰهِهِمْ وَمَا تُخْفِى صُدُورُهُمْ

بیشکه ښکاره شوې ده | دښمنی | د هغوی له خولو نه | او هغه چه | پټ دی | د هغوی سینو (کښے)

کومه چه تاسو ته تکلیف رسی او س خو ئے بغض د خولو نه هم ښکاره شو دے او کوم چه ئے په زړونو کښے پټ پروت دے

أَكْبَرُ ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْءَايَٰتِ ۖ إِن كُنتُمْ

(هغه د دے نه هم) زیات دے | بیشکه بیان کړی دی مونږ تاسو ته | آیتونه | که چرے تاسو

هغه خو لا د دے نه هم ډیر زیات دے، مونږ تاسو ته نخښے ښے ښکاره کړے، که چرے تاسو د غور او فکر

تَعْقِلُونَ ﴿١١٨﴾ هَٰٓأَنتُمْ أُولَآءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ

عقل لرئ | واورئ تاسو خو | هغه یئ (چه) | د هغوی سره محبت کوئ | او محبت نه کوی هغوی تاسو سره | او تاسو منئ

نه کار واخلئ ۔ تاسو تکیا یئ د هغوی سره مینه محبت ساتئ ولے د هغوی تاسو خوښ نه یئ سره د دے

بِالْكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓا ءَامَنَّا

ټول کتابونه | او کله چه | هغوی ملاقات کوی تاسو سره | (نو) وائی | مونږ (هم) ایمان راوړے دے

چه تاسو ټول آسمانی کتابونه منئ او کله چه تاسو سره یو ځائے شی نو وائی چه مونږ ایمان راوړے دے

وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۚ قُلْ

او هر کله چه ځان له شی | نو چیچی هغوی | په تاسو باندې | (خپلے) گوتے | له غصے نه | ووایه

او چه ځان له یوازے شی نو د ډیره قهره د ریسه خپلے گوتے په غاښونو چیچی ۔ ورته ووایه

مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١١٩﴾ إِن

مړه شئ | په وجه د خپلے غصے | بیشکه | الله | پوهه دے | د زړونو په راز | که چرے

چه د خپل قهر د لاسه مړه شئ ۔ بیشکه الله ته ستاسو د زړونو حال معلوم دے ۔ که چرے

تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ

ورسیږی تاسو ته | نعمت | (نو) بد لگی په هغوی | او که چرے ورسیږی تاسو ته | (څه) تکلیف

تاسو ته څه فائده رسی نو دا خبره په هغوی بده لگی او که چرے درته څه تکلیف ورسیږی نو هغوی

يَفْرَحُوا بِهَا ۖ وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ

نو خوشحاله شي | په هغې | او که چېرې | تاسو صبر وکړئ | او پرهيزګاري وکړئ زيان به ونه رسوي تاسو ته

په دې خوشحاليږي. او كه تاسو صبر وكړئ او د الله نه ويره كوئ نو د هغوئ مكر و فريب تاسو ته

كَيْدُهُمْ شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾ وَإِذْ غَدَوْتَ

مكر د هغوى | هيڅ | بيشكه | الله | په هغه څه چه كوي هغوى | احاطه كوونكى دے | او كله چه | ته په وخت د سبا راووتلې

هيڅ ضرر نه شي دررسولے، الله د هغوى د هر كار نه راچاپيره دے. او ياد كړه (پيغمبره!) كوم وخت چه

مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ

د خپل كور نه | چه تا كښينول | مسلمانان | (په) مورچو (كښې) | د پاره د جنګ | او الله

ته سحر كور نه بهر ووتلے او (د اُحد په ميدان كښې) مسلمانان د ځائے په ځائے په مورچو كښې د جنګ د پاره مقرر ول او الله

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّت طَّائِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ

اورېدونكے | پوهه دے | هر كله چه اراده وكړه | دوو ډلو | له تاسو نه | چه همت بائيللي هغوى | او الله

هرڅه اوري او په هرڅه پوهه دے هر كله چه ستاسو د منځ نه دوو ډلو د نامردۍ اراده وكړه. حال دا چه الله

وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ

د هغوى دوست (دے) | او په الله باندې | پكار ده چه توكل وكړي | مسلمانان | او بيشكه فتح دركړے وه تاسو ته

د دواړو مددګار وو. او مؤمنانو له خو هميشه په الله باندې توكل پكار دے. او (د دې نه وړاندې) الله د بدر په ميدان كښې

اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾

الله | په بدر كښې | او تاسو كمزوري وئ | پس ووېرېږئ | د الله نه | د پاره د دے چه | شكر وكړئ.

كښې ستاسو امداد كړے وو كوم وخت چه تاسو ډېر كمزوري وئ، پس د الله نه وېرېږئ چه د هغه په نعمتونو شكر وكړے شئ.

إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ

هغه وخت چه وويل تا | مؤمنانو ته | آيا كافي به نه وي تاسو د پاره | چه | مدد وكړي ستاسو

(هم د بدر هغه واقعه ياده كړه) كله چه تا مسلمانانو ته وويل: آيا تاسو د پاره دومره كافي نه ده چه الله تعالى

رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰ ۚ

رب ستاسو | په درې | زره | فرښتو سره | چه (د بره نه) نازلے وي | ولے نه

درې زره فرښتې راكوزې كړي، او ستاسو امداد وكړي. ولے نه (كافي

إِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ

كه چېرې تاسو صبر وكړئ | او پرهيزګاري وكړئ | او (دښمن) په تاسو حمله وكړي | فوراً | نو امداد به وكړي ستاسو

ده) كه چېرے تاسو صبر وكړئ او د الله نه وېره كوئ او بيا كه چېرے هغه (دښمن) په ډېر جوش كښې په

رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾

رب ستاسو | په پنځو | زرو | فرښتو سره | (چه) خاص نخښے به لري

تاسو حمله وكړي نو الله به پنځو زرو فرښتو سره ستاسو امداد وكړي چه خاص نخښے به ورسره وي.

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَىِٕنَّ قُلُوْبُكُمْ

اونه دی ګرځولې هغه (مدد) الله | مګر | زیری | تاسو د پاره | او د پاره د دې چه په آرام شي | زړونه ستاسو

او دا خبره خو دې ته الله تعالیٰ ځکه وکړه چه تاسو خوشحاله شئ او زړونه مو په ځائے

بِهٖ ؕ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۙ﴿۱۲۶﴾

په هغې | او نه (دے) مدد | مګر | د الله د طرف نه | چه غالب | خاوند د حکمت دے

شي ، او امداد خو هم د الله د طرف نه دے چه غالب او حکمت خاوند دے

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآىِٕبِيْنَ ﴿۱۲۷﴾

چه کوتره کړي يوه برخه | د هغو خلقو چه کافران دي | يا ذليل کړي هغوی | يا هغوی واپس شي | ناکامه

(او دا) دې د پاره چه د کافرانو يو ټولے هلاک کړي يا ئے خوار او ذليل کړي چه نامراده واپس لاړ شي .

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ

نشته دے | ستا | په دے کار کښے (دخل) | هيڅ څيز | يا (خو هغه) توبه نصيب کړي | هغوی ته | يا هغوی له عذاب ورکړي

(اے پیغمبره ! د هغوی) فیصله ستا په لاس کښے نه ده که د الله خوښه وی نو توبه ئے قبوله کړي يا عذاب په ورکړي

فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

ځکه چه هغوی | ظالمان دي | او د الله دي | څه چه په آسمانونو کښے دي | او څه چه | په زمکه کښے دي

ولے چه هغوی په ځان زياتے کوی او هر څه چه په آسمانونو او په زمکه کښے دي هغه ټول د الله دي .

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

بخښنه کوی | چاته چه وغواړی | او عذاب ورکوی | چاته چه وغواړی | او الله | بخښونکے

چاته چه غواړی بخښنه کوی او چاته چه غواړی عذاب ورکوی او الله تعالیٰ بخښونکے

رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ۪ ع

مهربان دے | اے | مؤمنانو ! | مه خورئ | سود | دو چند په بيا بيا دوچندئ سره

مهربان دے . اے مسلمانانو ! تاسو سود مه خورئ چه هغه په څو څو چنده زياتيږي

وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ۚ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ

او ووېرېږئ | د الله نه | د پاره د دې چه تاسو | کامياب شئ | او ووېرېږئ | د هغه اور نه | کوم چه

او د الله نه وېره کوئ چه تاسو کامياب شئ . او د هغه اور نه ځان بچ وساتئ کوم چه

اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ۚ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ

تيار کړے شوے دے | د کافرانو د پاره | او حکم ومنئ | د الله | او د رسول | چه په تاسو

د کافرانو د پاره تيار شوے دے . او د الله او د رسول حکمونه منئ اُميد دے چه رحم

تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ۚ وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ

رحم وکړے شي | او منډه کړئ | د بخښنے طرف ته | د خپل رب | او جنت (طرف ته)

درباندې وکړے شي . او په هغه لاره په تلوار ځئ چه د الله تعالیٰ د مغفرت او هغې جنت ته ځي

عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ الَّذِيْنَ

چه پلنوالے دَ هغې | دَ اسمانونو | او دَ زمکے (برابر) دے | تيار کړے شوے دے | پرهيزګارانو دَ پاره | کوم خلق چه

چه دَ هغې پلنوالے دَ اسمانونو او دَ زمکے برابر دے او دَ هغه پرهيزګارانو دَ پاره تيار کړے شوے دے چه په

يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ

خرڅ کوی | په آرام کښے | او سختئ (کښے) | او زغمی | غصه | او معاف کوی

خوشحالئ او بې حالئ دواړو کښے خپل مالونه خيرات کوی او غصه په قابو کښے ساتی او دَ خلقو

عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا

خلق | او الله | دوست لری | نيکان | او هغه خلق | هر کله چه وُکړی

قصورونه معاف کوی او داسے نيکان خلق دَ الله تعالیٰ ډير خوښ دی او هغه خلق چه څۀ خراب کار

فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا

څۀ بد کار | يا ظلم وُکړی | په خپلو ځانونو | نو ياد وی | الله | بيا بخښنه غواړی

وُکړی يا په خپل ځان څۀ زياتے وُکړی نو (فورًا) الله تعالیٰ ياد وی بيا دَ هغۀ نه دَ خپلو

لِذُنُوْبِهِمْ ۠ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۠ وَلَمْ يُصِرُّوْا

دَ خپلو ګناهونو | او څوک | بخښلے شی | ګناهونه | سوا | دَ الله نه | او ضد نۀ کوی

ګناهونو معافی غواړی او دَ الله تعالیٰ نه سوا څوک ګناهونه بخښلے شی، او کوم ګناهونه ئے چه

عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ

په هغه ګناه چه وُئے کړی | او هغوی پوهه وی | دغه خلق دی | چه بدله دَ دوی | بخښنه ده

کړی وی په هغې ضد نۀ کوی او هغوی پوهيږی. او دَ داسے خلقو بدله داده چه الله تعالیٰ به ورته

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

دَ دوی دَ رب دَ طرفه | او باغونه دی | چه بهيږی به | لاندې دَ هغې نه | نهرونه | هميشه به وی (هغوی)

بخښنه وُکړی او داسے باغونه به ورکړی چه دَ هغې لاندې به نهرونه بهيږی چه په هغې کښے به هغوی

فِيْهَا ۗ وَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ

په هغې کښے | او ښۀ ده | بدله | دَ عمل کوونکو | بيشکه تيرشوی دی | تاسو نه وړاندې | واقعات

هميشه وُسيږی او دَ نيک عمل کوونکو دَ پاره دا ډيره ښه اجر دے. بيشکه تاسو نه وړاندې ډير واقعات تير شوی دی

فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۳۷﴾

پس وُګرځئ | په زمکه کښے | بيا وُګورئ | څنګه | شو | انجام | دَ دروغ ګڼړونکو

نو تاسو دَ زمکے په مخ وُګرځئ او وُګورئ چه چا دَ الله حکمونه دروغ ګڼړل دَ هغوئ څۀ انجام شو ؟

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾

دا (قرآن) | بيان دے | دَ خلقو دَ پاره | او | هدايت | او نصيحت | پرهيزګارانو دَ پاره

دا (قرآن) دَ ټولو خلقو دَ پاره يو بيان او پرهيزګارانو دَ پاره هدايت او نصيحت دے.

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾

اومهٔ سستیږئ | اومهٔ غمـژن کیږئ | او تاسو | به غالب یئ | که چرې یئ تاسو ریښتینی مؤمنان

او تاسو همت مهٔ بائیلئ او مهٔ غم کوئ او هم تاسو به غالب راځئ که چرې تاسو خپل دعوه ایمان لرئ.

إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ ۚ

که چرې ورسیږی تاسو ته (ځم) زخم | نو رسیدلے (دے) | قوم (د کافرانو) ته | زخم | په شان د هغې

که (نن) تاسو ته (په دې جنګ کښې) زخم لګیدلے دے نو دے قوم (کافرانو) ته هم داسې زخم لګیدلے دے.

وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ

او دا | (د فتح او ماتې) ورځې | اړوو را اړوو مونږ | د خلقو په مینځ کښې | او د پاره د دې هم چه جدا کړی | الله

او دا خو حالات دی کوم چه مونږ (وار په وار) په خلقو کښې بدلوو را بدلوو. او مقصد هم دا دے چه الله په تاسو کښې

الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ

مؤمنان | او جوړ کړی | ځنې په تاسو کښې | شهیدان | او الله | دوست نهٔ لری

هغه خلق ګوزلماوی کوم چه مؤمنان دی او په تاسو کښې ځنو ته د شهادت درجه نصیب کړی او د الله ظالمان

الظَّالِمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ

ظالمان | او د پاره د دې چه بیخی پاک کړی | الله | مسلمانان | او ختم کړی

خوښ نهٔ دی او په دې وجه هم چه الله د ایمانداندو (د ګناهونو نه) پاک صفا کړی او کافران

الْكَافِرِينَ ﴿١٤١﴾ أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ

کافران | آیا | ګمان کوئ تاسو | چه داخل به شئ تاسو | جنت کښې | حال دا دے چه (اوس) نهٔ دی معلوم کړی

تباه کړی. آیا تاسو ګنړئ چه جنت ته به (ادچ په ادچه) داخل شئ حال دا دے چه الله په

اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٢﴾

الله | هغه خلق | (کوم چه) جهاد وکړو | په تاسو کښې | او (نهٔ دی) معلوم کړی | صبر کوونکی

تاسو کښې لا جهاد کوونکی نهٔ دی ازمائیلی او نهٔ ئې صبر کوونکی ازمائیلی دی.

وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَلْقَوْهُ

او بیشکه | تاسو | آرزو کوله | د مرګ | وړاندې د دے نه چه | تاسو ملاقات وکړو د مرګ سره

او تاسو خو په د مرګ آرزو ګانې کولے (خو هغه وخت) چه مرګ مو لیدلے نهٔ وو

فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿١٤٣﴾ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ ع ١٤

پس ولیدو تاسو هغه | او تاسو کتل (په خپلو سترګو) | او نهٔ دے محمد | مګر | یو رسول

نو اوس درته مرګ مخامخ راغے او تاسو ولیدلو. او محمد (صلی الله علیه وسلم) نور څهٔ نهٔ دے خو بس یو پیغمبر دے

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۚ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ

بیشکه تیر شوی دی | د هغهٔ نه وړاندې | پیغمبران | آیا بیا که چرې | دے وفات شی | یا قتل کړے شی

د ده نه وړاندې نور پیغمبران هم تیر شوی دی. نو که دے وفات شی یا ووژلے شی

انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ؕ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ

په پوندو خپلو | بېرته وګرځي | او څوک چه | په پوندو خپلو | نو بېرته به ګرځئ تاسو

نو ایا تاسو به په اړو لو بېرته (د اسلام نه) بېرته ګرځئ؟ او (یاد ساتئ) څوک چه کفر ته واپس وګرځي

فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا ؕ وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾

شکر ګزارو ته | الله | او ډېر زر به بدله ورکړي | هیڅ (هم) | الله ته | هغه به هیڅ کله زیان ونه رسوی شي

نو هغه الله ته هیڅ نقصان رسولے نه شي. او الله به ډېر زر شکر ګزارو بندګانو ته بدله ورکړي

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ

په نیټه سره | لیکلے شوے | د الله په حکم | مګر | چه مړ شي | یو نفس له | او دا ممکنه نه ده

او هیڅ یو ژوندے د الله د حکم نه بغیر مړ کیدے نه شي، مرګ خو په نیټه لیکلے شوے دے

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ

او څوک چه | د دے نه | مونږ ورکوو هغه ته | د دُنیا | ثواب | غواړي | او څوک چه

او څوک چه دنیوی ثواب غواړي مونږ به ورله په دنیا کښے ثواب ورکړو او څوک چه د

يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ وَسَنَجْزِى الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾

شکر ګزارو ته | او مونږ به ډېر زر بدله ورکړو | د هغے نه | مونږ ورکوو هغه ته | د اخرت | ثواب | غواړي

اخرت د ثواب د پاره کار کوي نو هغه له به په اخرت کښے ثواب ورکوو او مونږ به ډېر زر شکر ګزارو له بدله ورکړو

وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ فَمَا

بیا نه (خو) | ډېر و | خدائی خلقو | د هغوی په ملګرتیا کښے | چه جهاد وکړو | له پیغمبرانو نه | او څومره (ډېر شول)

او (دا) دے نه وړاندې ډېر پیغمبران وو چه د هغوی په ملګرتیا کښے ډېرو خدائی خلقو جهاد وکړو. نو د الله په

وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا

او نه کمزوري شول | د الله په لاره کښے | په سبب د هغه مصیبت چه ورسیدو هغوی ته | هغوی همت بائیللو

لار کښے چه کوم مصیبتونه ورته رسیدلی وو، په هغے بانډې د هغوی زړونه پریوتی نه وو، نه کمزوري شوی وو

وَمَا اسْتَكَانُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَمَا كَانَ

او نه | ښکته شول | او الله دوست لري | صابران | او نه وه

او نه ئے باطل ته سر ټیټ کړے وو او د الله صابره خلق خوښ وي. د هغوی خو بس دا

قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا

خبره د هغوی | سوا | (د دې نه) چه | هغوی به وئیل | اے ربه زمونږ! | وبخښه | مونږ د پاره | ګناهونه زمونږ

دعا وه چه اے زمونږه ربه! زمونږ ګناهونه او زمونږ د لاسه

وَاِسْرَافَنَا فِىْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا

او زمونږ زیاتے | زمونږ په کار کښے | او کلک کړه | زمونږ قدمونه | او مدد راکړه مونږ ته

شوے زیاتے راته وبخښه، او زمونږ پښے کلکے کړه او د کافرانو په

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٤٧﴾ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ

پہ | قوم | دَ کافرانو | پس ورکړو هغوئ ته | الله | ثواب | دَ دُنیا | او ښهٔ

مقابلہ کښې موښږ لہ فتح راکړه . نو الله تعالیٰ هغوی له دَ دُنیا ثواب هم ورکړو ، او دَ آخرت

ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٤٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

ثواب | دَ آخرت | او الله | دوست لری | نیکان | اے | مؤمنانو!

ښهٔ ثواب ئے هم ورکړو او نیکان خلق دَ الله تعالیٰ خوښ وی . اے مؤمنانو!

اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا

کهٔ چرې تاسو خبره منئ | دَ کافرانو | نو هغوی به بیرته درگرځوی تاسو | په پوندو ستاسو | پس تاسو به گرځئ تاسو

کهٔ تاسو دَ کافرانو خبرے منئ نو په اړدو ښپو به مو (کفر ته) واپس کړی ، بیا به په سخت

خٰسِرِيْنَ ﴿١٤٩﴾ بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿١٥٠﴾

زیان کاره | بلکه | (هم) الله | ستاسو مالک دے | او هغه | ډیر ښهٔ | مددگار دے .

نقصان کښې پریوځئ (دَ دوئ خبرې مه اورئ) بلکه الله ستاسو مددگرے دے او هغه ډیر ښهٔ مددگار دے

سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ

اوس به موښږ واچوو | په زړونو کښې | دَ هغو خلقو چه | کافران دی | رُعب

موښږ به ډیر زر دَ کافرانو په زړونو کښې (ستاسو) رُعب واچوو ،

بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ

په سبب دَ هغے چه شریک کړو ئے هغوی | دَ الله سره | هغه شیز | چه نهٔ دے نازل کړے | دَ هغے | (الله څخه) دلیل

ځکه چه دوئ دَ الله سره داسے څیزونه شریک کړی دی چه دَ هغے په حقله الله هیڅ دلیل نهٔ دے نازل کړے

وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۗ وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٥١﴾ وَلَقَدْ

او ځائے دَ هغوی | دوزخ دے | او خراب دے | ځائے دَ اوسیدو | دَ ظالمانو | او بیشکه

او دَ دوئ ټیکاؤنړه دوزخ دے ، او دَ ظالمانو ټیکاؤنړه ډیره بده ده . او الله تعالیٰ تاسو

صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا

رښتیا کړه تاسو سره | الله | خپله وعده | هغه وخت چه تاسو وژل هغوی | دَ هغهٔ په حکم | تر دے چه | هر کله

سره خپله وعده رښتیا کړه څهٔ وخت چه (دَ جنگ په اول کښې) تاسو هغوئ دَ الله تعالیٰ په حکم سره بے دریغه

فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِى الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَآ

تاسو کمزوری وښودله | او تاسو جګړه شروع کړه | په خپل کار کښې | او نافرمانی وکړه تاسو | پس له دے نه چه

وژل خو چه تاسو بے زړه شوئ او په خپل کار کښې مو جګړه شروع کړه او دَ پیغمبر دَ حکم نافرمانی مو وکړه پس له هغے نه چه

اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ۗ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا

وُښودلو تاسو ته | هغه شیز | چه تاسو خوښولو | (څخه) په تاسو کښې | هغه (دے) کوم چه غواړی | دنیا

الله درته ستاسو دَ خوښے څیز (مال غنیمت) وُښودلو ، په تاسو کښې څهٔ خلق دَ دُنیا طلب کار وُو

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ

او ځينې له تاسو څخه | کوم چه غواړي | آخرت | بيا | ئې وګرځولئ تاسو | له هغوی نه | د پاره د دې چه وازمائي تاسو

او ځينې د آخرت خواهشمند وو. نو تاسو ئې د کافرانو (د تعاقب) نه وګرځولئ چه ستاسو امتحان واخلي

وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ۗ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١٥٢

او بيشکه | هغه معاف کړي | تاسو | او الله | لوئې د فضل خاوند دی | په مؤمنانو باندې

او (اوس الله) تاسو ته معاف وکړه، او الله په مؤمنانو باندې مهربان دے.

اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ وَّالرَّسُوْلُ

هغه کله چه | تاسو لرے تللئ په تيښته کښې | او مخ نه را ګرځولو تاسو | د چا طرف ته | او پيغمبر

(هغه وخت ياد کړئ) کله چه تاسو لرے وتلي وئ او هيچا ته مو پسته نه کتل او پيغمبر

يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ غَمًّاۢ بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا

را بللئ تاسو | ستاسو د وروستو نه | بيا ئې ورسولو تاسو ته | د غم په بدل کښې غم | د پاره د دې چه غمژن نه شئ

درته د وروستو نه آوازونه کول. پس (الله ستاسو تربيت د پاره) غم د پاسه غم درکړو د پاره د دے چه کوم څيز

عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ ۢ

په هغه څه چه | لاس نه شي ستاسو د لاس | او نه | په هغه څه چه | ورسيږي تاسو ته مصيبت | او الله | با خبره دے

ستاسو د لاس نه ووځي يا درته تکليف ورسي نو چه په هغې غمژن نه شئ. او الله تعالی ستاسو د

بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١٥٣ ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ

په هغه څه | چه کوئ ئې تاسو | بيائې | راوليږلو | په تاسو باندې | پس له | غم نه

کارونو نه خبر دے. بيا د دے (لوئې) غم نه پس ئې ستاسو په زړونو کښې اطمينان

اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ ۙ وَطَآئِفَةٌ

امن | (يعنی) پرکالی | چه پټوله ئې | يوه ډله | له تاسو نه | او يوه ډله (هغه وه)

پيدا کړو چه يو قول له خوب جوړته ور کوله، او يوے ډلے (د منافقينو)

قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ

(چه) هغوی سره فکر وو | د خپلو ځانونو | هغوی ګمان کولو | په الله باندې | نا حق | ګمان

ته هغه وخت هم د خپلو ځانونو فکر وو، او د الله تعالی په حقله ئې په ناحقه د جاهلانو په شان

الْجَاهِلِيَّةِ ۭ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ ۭ

د جاهليت | هغوی به وئيل | آيا | مونږ د پاره | له دے کار نه | څه څيز (شته)؟

بدګمانيانے کولے، وئيل به ئے چه په دے کار کښې مونږ ته څه اختيار شته ؟

قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ۭ يُخْفُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

ووايه | بيشکه | کار | ټول | د الله دے | هغوی به پټولو | په خپلو زړونو کښې

ووايه (اے نبي!) يقيناً ټول خبرے هم د الله په اختيار کښې دی، دا خلق په زړونو کښې هغه خبرې پټے ساتي

مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ

چه نهٔ يې ښکاره کوي | تا ته | وئيل به ئې | كهٔ چرې وې | مونږ دَ پاره | له دې كار نه

کومې چه ستا په وړاندې نهٔ څرګندوي، دوی (په خپل مينځ کښې) وائي که څهٔ اختيار زمونږ په لاس کښې وې نو مونږ

شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَاهُنَا ۗ قُل لَّوْ كُنتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ

څهٔ څيز | نو نهٔ به وُو قتل شوي مونږ | دلته | وُوايه | كهٔ چرې | وئ تاسو | په خپلو کورونو کښې

به دلته نهٔ وُو وژلے شوي. ورته وُوايه چه كهٔ تاسو په خپلو کورونو کښې هم ناست وې

لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَىٰ

خامخا به بهر ته راوتلي وُو | هغه خلق چه | (په تقدير کښې) ليکلي وو | په هغوی باندې | وژلي كيدل | په طرف

نو دَ چا په نصيبه کښې چه مرګ ليکلے شوے وُو، هغوی به دَ خپل مرګ ځايونو

مَضَاجِعِهِمْ ۖ وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ

دَ ځايونو دَ وژلے کيدلو خپلو | او دَ پاره دَ دې چه وُازمائي | الله | هغه څهٔ چه | ستاسو په سينو کښې دي

ته راوتلي وُو. او دا (معامله) ځکه وشوه چه الله ستاسو دَ سينو پټ رازونه وُازمائي، او

وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾

او دَ پاره دَ دې چه پاک کړي | څهٔ چه | ستاسو په زړونو کښې دي | او الله | ښهٔ پيژني | راز | دَ سينو

ستاسو دَ زړونو درغلتيا صفا کړي، او الله ته دَ زړونو راز ډير ښهٔ معلوم دے.

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ

بيشکه | هغه خلق چه | مخ ئې وګرځولو | له تاسو نه | په هغه ورځ | چه يو بل ته مخامخ شوے | دواړه ډلې.

په تاسو کښې چه کوم خلقو (دَ أُحد دَ جنګ په ورځ) دَ جنګ نه مخ اړولے وو هرکله چه دواړه ډلې يو بل ته مخامخ

إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ۖ وَلَقَدْ

بيشکه چه | وُښوئول هغوی | شيطان | په سبب دَ ځنې هغو عملونو | کوم چه هغوی کړي وُو | او بيشکه

شوے، نو دا ځکه چه شيطان دَ هغوی دَ ځنو عملونو په وجه دَ هغوی قدمونه خويولي وُو، الله دَ

عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٥٥﴾

معاف کړل | الله | هغوی له | بيشکه | الله | بخښونکے | دَ زغم خاوند دے

دَ هغو خلقو ګناه معاف کړه او الله يقيناً بخښونکے دَ زغم خاوند دے.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا وَقَالُوا

اے | دَ ايمان خاوندانو! | مهٔ کيږئ | په شان دَ هغو خلقو | چه کافر شول | او وُئې وئيل

اے مؤمنانو! دَ كافرانو په شان خبرې مهٔ کوئ چه دَ

لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَّوْ كَانُوا

خپلو وروڼو ته | هرکله چه هغوی سفر وکړو | په زمکه کښې | يا هغوی وُو | په جهاد کښې | كهٔ چرې وے هغوی

هغوی خپل خپلوان چرته په سفر ووځي يا غزا له لاړ شي (او مړهٔ شي)، نو هغوی وائي كهٔ چرې

عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا ۚ لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً

موږ سره | نو نه به مړه کیدل | او نه به وژلے کیدل | چه وګرځوی | الله | دا (خبره) | ارمان

دوی دلته موږ سره پاتے وے نو مړه شوی او وژلے شوی به نه وو، دا ئے خبره الله د هغوی په زړونو کښے د حسرت

فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

د هغوی په زړونو کښے | او الله | ژوندی کوی | او مړه کوی | او الله | هغه څه ته چه تاسو کوئ

پیدا کولو سبب ګرځوی، او الله ژوندی کول او وژل کوی ، او الله تعالیٰ ستاسو کاروبار

بَصِيْرٌ ﴿۱۵۶﴾ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ

ګوری | او که چرے | تاسو ووژلے شئ | د الله په لاره کښے | یا مړه شئ | خامخا بخښنه

وینی ګوری. او که تاسو د الله په لاره کښے ووژلے شئ یا مړه شئ نو د الله د طرف نه

مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ

د الله د طرف نه | او (د هغه) رحمت | ډیره ښه ده | له هغه څه نه | چه هغوی جمع کوی | او که چرے مړه شوئ | یا

مغفرت او رحمت د هغه ټول مال نه ډیره ښه ده کوم چه دا خلق راغونډوی. او که تاسو مړه شئ یا

قُتِلْتُمْ لَاِ۟اِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

ووژلے شوئ | نو خامخا به د الله طرف ته | راجمع کړے شئ | پس په سبب د مهربانئ سره | له طرفه د الله نه

ووژلے شئ نو په هر حال الله ته به راټول کړے شئ. (اے پیغمبره!) دا د الله تعالیٰ مهربانی ده

لِنْتَ لَهُمْ ۚ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا

نرم شوے ته | د هغوی د پاره | او که چرے | وے ته | سخت خویه | د سخت زړه خاوند | نو هغوی (ټول) به پاشلی شوی

چه ته د خلقو ته ډیر زیات نرم یئے او که ته تیز خویه سنګدله وے نو ټول خلق به ستا د خوا نه

مِنْ حَوْلِكَ ۠ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ

ستا د خوا او شا نه | پس معاف کړه ته | هغوی | او بخښنه وغواړه | هغوی د پاره | او مشوره کوه هغوی سره

تښتیدلی وو ، نو د دوی قصورونه معاف کړه او د دوی په حقله د بخښنے دعا وغواړه او په معاملو کښے

فِي الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

(په امر) معامله کښے | بیا هر کله چه | ته پخه اراده وکړے | نو توکل وکړه | په الله باندے | بیشکه | الله

د دوی سره هم مشوره کوه خو هر کله چه د څه خبرے پخه اراده وکړے نو بیا په الله توکل کوه. یقیناً توکل کوونکی کسان

يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ

دوست لری | توکل کوونکی | که چرے مدد درکړی تاسو ته | الله | پس نشته دے هیڅوک غالب کیدونکے

د الله تعالیٰ ډیر خوښ دی. که الله تعالیٰ ستاسو مدد کوی نو هیڅ طاقت په تاسو غالب

لَكُمْ ۚ وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ بَعْدِهٖ ۭ

په تاسو | او که چرے | هغه پریږدی تاسو | پس څوک دے هغه چه | مدد به درکړی تاسو ته | پس له دهٔ نه

نهٔ شی راتلے او که الله تعالیٰ مو یوازے پریږدی نو بیا بل داسے څوک کیدے شی چه د هغهٔ نه پس به تاسو له مدد درکړی

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٦٠﴾ وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ

او په الله باندې | پس توکل دې وکړي | مؤمنان | او نه دی (ممکنه) | نبي د پاره

او پکار دي چه مؤمنان په الله تعالیٰ باندې توکل کوي. او د هيڅ يو نبي دا کار نه دے

اَنْ يَّغُلَّ ۚ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَاْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ

چه خيانت وکړي | او څوک چه خيانت وکړي | نو هغه به راوړي | هغه څيز چه خيانت کړے ئې دے | په ورځ د قيامت

چه هغه دې خيانت وکړي او څوک چه خيانت وکړي نو هغه څيز به د قيامت په ورځ ځان سره راوړي

ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦١﴾

بيا | به پوره ورکړے شي | هر نفس ته | کوم چه هغه ګټلي وي | او په هغوی | به ظلم نه شي کولے.

بيا به هر چا ته د خپل عمل پوره پوره بدله ورکولے شي او په هيچا به هيڅ زياتے نه کيږي

اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ

نو ايا چا چه | پيروي وکړه | د الله د رضا | هغه (به ګډ) په شان د هغه چا چه راغلو | په غضب کښې | د الله

نو ايا څوک چه د الله په رضا چليږي د هغه چا په شان کيدے شي په چا چه د الله غضب شوے وي

وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ

او ځائے د هغه | دوزخ دے | او هغه (ډير) بد دے | ځائے ورتلو (واپس) | د هغو (ټولو) درجې دي | الله سره.

او دوزخ د هغه ټيکانړه وي؟ او هغه ډير خراب ځائے دے. الله سره د خلقو جدا جدا درجې دي.

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٦٣﴾ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ

او الله | ګوري | هغه څه چه هغوی ئې کوي | بيشکه | احسان وکړو | الله

او الله تعالیٰ د هغوی کارونه ديقه ګوري. الله تعالیٰ واقعي په مؤمنانو باندې ډير لوئے

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ

په مسلمانانو | هر کله چه راوئے ليږلو | په هغوی کښې | يو پيغمبر | هم له هغوی نه

احسان کړے دے، چه په دوی کښې ئې د دوی (د خپل قوم) نه يو پيغمبر راليږلے دے

يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ

چه تلاوت کوي | په هغوی | د هغه ايتونه | او پاکوي هغوی | او زده کوي هغوی ته | کتاب

چه هغه ورته د الله تعالیٰ ايتونه اوروي او د دوی (زړونه) پاکوي او دوی ته د کتاب او حکمت

وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٦٤﴾ اَوَلَمَّآ

او علم | او بيشکه هغوی وو | د دې نه وړاندې | په ښکاره ګمراهئ کښې | ايا هر کله چه

تعليم ورکوي، او د دې نه وړاندې خو دا خلق په ښکاره ګمراهئ کښې پراته وو. او کله چه (د احد په

اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ قُلْتُمْ اَنّٰى

ورسيده تاسو ته | مصيبت | چه رسولے دے تاسو | د هغې نه دوچنده | نو وئيل تاسو | چه کوم ځائے نه

جنګ کښې) په تاسو باندې مصيبت راغلو دا مصيبت چه د دې نه دوچنده تاسو په هغوی باندې (د بدر په جنګ کښې) راوستے وو نو تاسو وئيل چه

النصف

هٰذَا ؕ قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ

(راغلی دا ؟) | ووایه | هغه | خپله ستاسو د طرف نه راغلو | بیشکه | الله | په هر څیز باندې

دا د کوم ځایه نه راغی، ووایه چه دا تاسو پخپله په ځان راوستې دے . بیشکه الله تعالیٰ په هر څه

قَدِیْرٌ ﴿۱۶۵﴾ وَمَاۤ اَصَابَكُمْ یَوْمَ الْتَقَی الْجَمْعٰنِ

قادر دے | او کوم چه | ورسیدو تاسو ته مصیبت | په هغه ورځ چه | یو بل ته مخامخ شوے | دواړه ډلے

قدرت لری. او کوم مصیبت چه په تاسو باندې په هغه ورځ راغے هرکله چه دواړه ډلے (په اُحد کښې) یو بل ته مخامخ شوے

فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِیَعْلَمَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۶۶﴾ وَلِیَعْلَمَ

پس په حکم د الله سره | او د پاره د دې چه معلوم کړی | مؤمنان | او د پاره د دې چه معلوم کړی

نو دا هم د الله په حکم سره وو چه الله مؤمنان ښکاره کړی . او منافقان هم بیل

الَّذِیْنَ نَافَقُوْا ۚۖ وَقِیْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ

هغه خلق چه | منافقان شول | او وویلے شو | هغوی ته | راشئ | وجنګیږئ | په لار کښې د الله

کړی (هغه منافقان) چه هغوی ته وویلے شو چه راشئ د الله تعالیٰ په لار کښې جنګ وکړئ

اَوِ ادْفَعُوْا ؕ قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنٰكُمْ ؕ هُمْ لِلْكُفْرِ

یا دفع کړئ کافران | هغوی ووئیل | که چرې مونږ پوهیدلے | په جنګ کولو | نو خامخا به پیروی کړې وه مونږ ستاسو | هغوی خو کفر ته

یا (دښمن) دفع کړئ؛ نو هغوی ووئیل که مونږ ته معلومه وے چه (نن) جنګ دے نو مونږ به خامخا درپسې درغلی وو. دغه ورځ

یَوْمَئِذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْاِیْمَانِ ۚ یَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ

په دغه ورځ | ډیر نزدے شول | په نسبت (د دې چه وو) هغوی ایمان ته (نزدې) | هغوی وائی | په خپلو خلو

په وخت هم هغوی د ایمان په نسبت کفر ته زیات نزدے وو . دوی په خلے هغه خبرے کوی، چه په

مَّا لَیْسَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا یَكْتُمُوْنَ ﴿۱۶۷﴾

هغه څه چه نه دی | د هغوی په زړونو کښې | او الله | زیات پوهه دے | په هغه کوم چه | هغوی پټوی

زړونو کښې ئے هغه نه دی . او کومے خبرے چه دوی پټوی هغه الله ته ډیرے ښے معلومے دی.

اَلَّذِیْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا

دا هغه خلق دی کوم چه | ووئیل | خپلو ورونړو ته | او په خپله ناست وو له جنګ نه | که چرې هغوی زمونږ خبره

دا هغه خلق دی چه پخپله خو ناست پاتے شول او د خپلو ورونړو په حقله ئے ووئیل چه که زمونږ خبره ئے منلے

مَا قُتِلُوْا ؕ قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ

نو نه به وو قتل شوی | ووایه | دفع کړئ تاسو | له خپله ځانه | مرګ | که چرے | یئ تاسو

دے نو وژلی شوی به نه وو. ورته ووایه، که چرے تاسو په دې وینا کښې رښتونی یئ نو د خپل ځان نه مرګ

صٰدِقِیْنَ ﴿۱۶۸﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ؕ

رښتونی | او ګمان مه کوه | په هغو خلقو چه | ووژلے شول | د الله په لاره کښې | د مړو

دفع کړئ. او څوک چه د الله په لار کښې وژلے شوی دی، هغوی هیڅکله مړی مه ګڼه

بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴿۱۶۹﴾ فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ

بلکه ژوندي دي | د خپل رب سره | هغوی ته روزي ورکول کېږي | خوشحاله دي | په هغه څه چه ورکړي دي هغوی ته الله

بلکه هغوی خپل رب سره ژوندي دي رزق ورته ورکولے شي . (او) الله تعالیٰ چه د خپل فضل نه هغوی ته څه ورکړي

مِنْ فَضْلِهٖ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ

له خپل فضل نه | او هغوی خوشحالیږي | د هغو خلقو (په نسبت) | چه لا نه دي یو ځلے شوي | د هغوی سره

دي په هغې خوشحاله دي . او د هغو خلقو په نسبت خوشحالي کوي چه لا وروستو (په دنیا کښے) دي او هغوی

مِّنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۷۰﴾

له هغوی نه وروستو | چه نشته دے | (هیڅ) خوف | په هغوی | او نه هغوی | به غمژن شي

سره (په برزخ کښے) ملاو شوي نه دي، هغوی له نه څه ویره شته ، او نه به خفه کیږي

يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ

هغوی خوشحالیږي | د الله په انعام | او فضل | او (په دے خبره) چه الله | نه ضائع کوي

هغوی د الله تعالیٰ په نعمت او فضل ډیر خوشحاله دي . او په دے خبره چه الله تعالیٰ د مؤمنانو

اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ

اجر | د مؤمنانو | کوم خلق چه | حکم ومنلو | د الله | او د رسول

اجر نه ضائع کوي . چا چه د زخم خوړلو نه پس هم د الله او رسول

مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ

پس له هغے نه چه | ورسیدلو هغوی ته | زخم | د هغو (ټولو) د پاره چا چه | نیکي وکړه | د هغوی نه

په آواز باندې ځان حاضر کړو ، په هغوی کښے چه کوم نیکان او پرهیزګاران

وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ

او پرهیزګاري ئے وکړه | اجر دے | ډیر لوئے | هغه خلق چه | ووئیل هغوی ته | خلقو | چه بیشکه (مخالفو) خلقو

دي هغوی له لوئے اجر مقرر دے ، دا هغه (مؤمنان) دي چا ته چه خلقو ووئیل چه کومو (د مکے) کافرانو

قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَّقَالُوْا

جمع کړے دے (لښکر) | د پاره ستاسو | پس وویریږئ د هغوی نه | نو هغوی نور زیات شول | په ایمان کښے | او هغوی ووئیل

ستاسو په مقابله کښے فوج جمع کړے دے د هغوی نه ووېریږئ نو په دے خبرے د هغوی ایمان نور زیات کړو او وے وئیل

حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ

کافي دے موږ د پاره | الله | او هغه ډیر ښه کارساز دے | بیا هغوی واپس شول | د الله په احسان | او فضل سره

چه موږ له الله یوازے بس دے او هم هغه بهترین کارساز دے . پس هغوی د الله په نعمت او د هغه په فضل سره کامیاب

لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ

ونه رسیدلو هغوی ته | (څه) تکلیف | او پیروي وکړه هغوی | د رضامندۍ د الله | او الله

واپس شول ، هغوی ته څه تکلیف هم ونه رسیدو او د الله د رضا کارونه هم وکړو . او الله

ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ﴿١٧٤﴾ اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ

خاوند دَ لوئے فضل دے | بیشکہ چہ | دا (خبردرکونکے) | شیطان دے | چہ ویروی | دوستان خپل

ډیر لوئے فضل خاوند دے. یقین وکړئ دا هم شیطان دے چہ تاسو دَ خپلو دوستانو نہ ویروی .

فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧٥﴾ وَلَا يَحْزُنْكَ

پس مہ ویریږئ تاسو دَ هغوئ | او ویریږئ لہ ما نہ | کہ چرے یئ تاسو | مؤمنان | او غمژن دِ نہ کړی تا

نو تاسو دَ هغوئ هرگز مہ ویریږئ او (صرف) هم ما نہ ویرہ کوئ کہ چرے تاسو واقعی مؤمنان یئ. او (اے نبی!) تہ دَ هغو

الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِى الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْئًا ۗ

هغہ خلق کوم چہ | زغلی | پہ کفر کښے | بیشکہ هغوی بہ | هیڅ کلہ نقصان نہ رسوی شی | اللہ تہ | هیڅ هم

خلقو پہ کارونو مہ غمژن کیږہ څوک چہ دَ کفر پہ اختیارولو کښے تلوارکوی دوی هیڅ کلہ دَ اللہ هیڅ تاوان نہ شی کولے.

يُرِيْدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِى الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ

اللہ غواړی | چہ نہ | جوړ کړی | هغوی دَ پارہ | (څہ) برخہ | پہ آخرت کښے | او هغوی دَ پارہ

اللہ دا غواړی چہ پہ آخرت کښے ورلہ هیڅ برخہ ورنہ کړی . او هغوی لہ

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٧٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ

عذاب دے | ډیر لوئے | بیشکہ | کوم خلق چہ | واخستو | کفر | پہ بدلہ دَ ایمان کښے

لوئے عذاب مقرر دے. چا چہ دَ ایمان پہ بدلہ کښے کفر پہ بیعہ اخستے دے.

لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْئًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٧﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ

هغوی بہ هیڅ کلہ زیان نہ رسوی | اللہ تہ | هیڅ | او هغوی دَ پارہ | عذاب دے | دردناک | او خیال دِ نہ کوی

هغوی یقینًا دَ اللہ تاوان نہ شی کولے، او هغوی لہ دردناک عذاب مقرر دے . او کافران دِ دا

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّمَا نُمْلِىْ لَهُمْ خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ۗ

هغہ خلق چہ | کافران دی | چہ زمونږ مهلت ورکول | هغوی تہ | بهتر دی | دَ هغوئ دَ ځانونو دَ پارہ

خیال نہ کوی چہ کُمی مونږ دوی لہ دَ ښیگړے دَ پارہ مهلت ورکړو

اِنَّمَا نُمْلِىْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٧٨﴾

بیشکہ مونږ خو مهلت ورکوو هغوی تہ | چہ هغوی نور زیات وکړی | گناهونہ | او هغوی دَ پارہ | عذاب دے | سپکوونکے

دا مهلت خو مونږ ځکہ ورکوو چہ هغوی پہ گناهونو کښے نور زیات شی او هغوی لہ سپکوونکے عذاب مقرر دے

مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى

اللہ بہ هیڅ کلہ پرے نږدی | مؤمنان | پہ هغہ (حال) | چہ تاسو یئ پہ هغے باندے | ترڅو چہ

دا نہ شی کیدے چہ اللہ تعالیٰ مؤمنان پہ دا سے حالت کښے پریږدی کوم چہ (نن صبا) ستاسو دے بلکہ

يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ

جدا کړی | ناپاک | لہ پاک نہ | او اللہ (هیڅ کلہ) نہ دے چہ | خبر دار کوی تاسو تہ

هغہ بہ پاک او پلیت خلق جدا کوی . او دَ هغہ دا طریقہ هم نہ دہ چہ تاسو تول دَ غیبو پہ خبرو

عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

په غيب باندې | او ليكن | الله | غوره كوي | له خپلو رسولانو نه | څوك چه وغواړي

خبر كړي ، دې د پاره الله په خپلو پيغمبرانو كښې چه څوك غواړي هغه غوره كوي

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ

پس ايمان راوړئ | په الله | او د هغه په پيغمبرانو | او كه چيرې | ايمان راوړئ تاسو | او پرهيزګاري وكړئ تاسو | نو تاسو د پاره

نو تاسو په الله او په پيغمبرانو باندې ايمان راوړئ او كه د ايمان او پرهيزګارئ په لار روان وسيږئ نو ډير لوئ اجر به

اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ

ثواب دې ډير لوئ | او هرګز دې خيال نه كوي | هغه خلق چه | شومتيا كوي | په هغه څه چه وركړې هغوئ ته الله

بيا مومئ . او په چا چه الله د مال فضل كړے دے او هغوئ په كښې شومتيا كوي

مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۭ سَيُطَوَّقُوْنَ

له خپل فضل نه | چه هغه ښه دي | د هغوئ د پاره | بلكه | هغه (خو) | بد ده دي | هغوئ د پاره | زر به طوق واچولے شي هغوئ

نو دا خيال دې نه كوي چه شومتيا ورله بهتره ده بلكه دا ګډوې په حقله نقصان دے ، د هغه د شومتيا مال

مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ

د هغه څه | په كوم كښې چه هغوئ شومتيا كړې ده | په ورځ | د قيامت | او هم د الله د پاره دے | ميراث

په ورته د قيامت په ورځ د غاړے تيزندئ كړے شي . او د اسمانونو او زمكو ټول ميراث

ع ۱۸ ۹ ۹

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ لَقَدْ

د اسمانونو | او د زمكے | او الله | د هغه څه نه | چه تاسو كوئ | (ښه) خبردار دے | يقيناً

يواز ے د الله تعالیٰ دے . او الله ستاسو په كارونو ښه خبر دے ، بيشكه

سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ

اوريدلے ده الله | خبره | د هغو خلقو چه | دوئ وئيل | بيشكه الله | محتاج دے | او مونږ

الله د هغه خلقو خبره واوريده چه دا ئې وئيل چه الله محتاج دے او مونږ غنيان

وقف لازم

اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ

غنيان يُو | زر ده چه مونږ به وليكو | هغه څه چه | هغوئ وئيل | او قتلول د هغوئ | پيغمبرانو لره | په ناحقه

يُو مونږ به د دوی دا خبره هم وليكو او (دا هم ليكو) چه دوی به په ناحقه پيغمبران وژل .

وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ

او مونږ به ووايو | وڅكئ | عذاب | سوزونكے | دا (بدله) ده | د هغه څه | چه وړاندې وليږلو

او (چه وخت راشي نو) ورته به ووايو چه اوس د اور د عذاب خوند وڅكئ . دا ستاسو د خپلو لاسونو وړاندې ليږلے

اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾ اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا

ستاسو لاسونو | او چه | الله (خو) | نه دے | ظلم كوونكے | په بندګانو | كوم خلقو چه | وئيل

ګټه ده او الله د بنديانو په حقله يو ذره ظالم نه دے . څوك چه دا وائی چه الله

إِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ إِلَيْنَآ أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتّٰى يَأْتِيَنَا

چه الله (خو) | موږ ته وعده اخستې ده | چه موږ ایمان رانه وړو | په یو رسول باندې | ترهغه وخته پورې چه | راوړي موږ ته

موږ ته وټیلي دي چه په هیڅ یو پیغمبر د ترهغه ایمان نه راوړو چه (اول) هغه زموږ په وړاندې

بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ ۗ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِي

قرباني | چه وخوري هغه | اور | ووایه | بیشکه راغلي وو تاسو ته | پیغمبران | له ماڼه وړاندې

داسې قرباني ونه کړي چه (د غیب) اور راشي او هغه وخوري (ته) ورته ووایه چه زما نه وړاندې پیغمبران تاسو ته څرګندې نښې

بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِي قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِنْ كُنْتُمْ

معجزې | او هغه څه چه | ووئیل تاسو | پس ولې | ووژل تاسو هغوی | که چیرې | یئ تاسو

راوړې وې او هغه نخښې هم راوړې وې چه تاسو غوارې نو هغوی مو ولې ووژل؟ که تاسو رښتیني

صٰدِقِينَ ۝١٨٣ فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ

رښتیا ویونکي | پس که چیرې | هغوی تا دروغژن وګڼي | نو دروغژن ګڼلي شوي وو | پیغمبران | وړاندې له تا نه

یئ. که اوس دوی تا دروغژن ګڼي، نو تا نه وړاندې هم ډیر پیغمبران دروغژن ګڼلي شوي

جَآءُو بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيرِ ۝١٨٤ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ

راوړې وو هغوی | روښانه دلیلونه | او صحیفې | او کتاب | روښانه | هر یو نفس | څکونکې د

دي، چه هغوی ښکاره نخښې او صحیفې او روښانه کتاب راوړي وو. هر ژوندي به یو ځل

الْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۖ فَمَنْ

مرګ دے | او بیشکه چه پوره پوره به درکړے شي تاسو ته | اجرونه ستاسو | په ورځ | د قیامت | پس څوک چه

مري. او تاسو ته به خپل پوره اجر د قیامت په ورځ درکړے شي نو څوک چه

زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيٰوةُ

به لرې وُساتلے شي | له اور نه | او داخل به کړے شي په جنت کښې | پس بیشکه هغه کامیاب شو | او نه دے | ژوند

د دوزخ د اور نه بچ شي، او جنت ته داخل شي، هغه کامیاب شو. او د دُنیا ژوند نو څه نه

الدُّنْيَآ إِلَّا مَتٰعُ الْغُرُورِ ۝١٨٥ لَتُبْلَوُنَّ فِيٓ أَمْوٰلِكُمْ

د دُنیا | مګر | سامان | د دوکې | تاسو به خامخا وُ ازمایلے شئ | په خپلو مالونو کښې

دي خو څرګند د دوکې دے. (مسلمانانو!) ستاسو د مالونو او ستاسو د سرونو

وَأَنْفُسِكُمْ ۚ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ

او په خپلو ځانونو کښې | او خامخا به واورئ | د هغو خلقو نه | چه ورکړے شوے دے هغوی ته | کتاب

ازمیښت به خامخا کیږي، او تاسو به د هغې خلقو نه چه مخکښې ورته کتاب ورکړے شوے دے

مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوٓا أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِنْ

له تاسو وړاندې | او له هغه خلقو نه | چه مشرکان دي | د اذیت (خبرې) | ډیرې | او که چیرې

او د مشرکانو د خُلې نه ډیرې تکلیف رسوونکې خبرې اورئ، او که

تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿١٨٦﴾ وَاِذْ

تاسو صبر وکړئ | او پرهیزګاري وکړئ | نو بیشکه | دا | د لوئے همت | کار دے | او هر کله چه

تاسو صابره پاتے شئ او ځان بچ وساتئ نو دا ډیرد اوچتے حوصلے کار دے. او (یاد کړه) هر کله

اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ

واخستو | الله | اقرار | هغو خلقو نه چه | ورکړے شوے وو | کتاب | چه خامخا بیانوئ به هغه | خلقو ته

چه الله د هغو خلقو نه کوم چه اهل کتاب دی دا وعده اخستے وه چه تاسو به د دے کتاب تعلیمات په خلقو

وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا

او مه | پټوئ هغه | نو وغورزولو هغوی هغه | د خپلو شاګانو نه وروستو | او واخستلو هغوی

باندے واضحه کول دی او پټ به ئے نه ساتئ خو هغوی دا وعده شاته وغورزوله او د الله کتاب ئے په

بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ﴿١٨٧﴾ لَا تَحْسَبَنَّ

د دے په بدله کښے | قیمت | لږ | پس ډیر بد دے | څه چه | هغوی اخلی | ته هیڅ کله خیال مه کوه

لږ قیمت خرڅ کړو، او ډیره خرابه سودا ئے وکړه. څوک چه په خپلو (مبادو)

الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اَتَوْا وَّيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا

په هغو خلقو | چه خوشحالیږی | په هغه څه چه | هغوی کوی | او خوښوی | چه د هغوی تعریف وشی

کارونو خوشحالیږی او دا غواړی چه په داسے کارونو د هغوی مدح وویلے شی

بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۚ

په هغه څه چه | هغوی نه دی کړی | پس ګمان مه کوه په هغوی باندے | په خلاصی کښے | له عذاب نه

کوم چه هغوی کړی نه دی، نو ته دا خیال مه کوه چه هغوی به د عذاب نه خلاص شول، د

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٨٨﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

او هغوی له | عذاب دے | دردناک | او الله د پاره ده | بادشاهی | د اسمانونو | او زمکے

هغوی د پاره خو دردناک عذاب مقرر دے. او د اسمانونو او زمکے مالک یوازے الله دے

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٨٩﴾ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ ع ١٩/٩/١٠

او الله | هر څیز باندے | قادر دے | بیشکه | په پیدا کولو کښے | د اسمانونو

او الله په هر څه قدرت لری. د اسمانونو او د زمکے په پیدا کیدو

وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿١٩٠﴾ ۙ

او زمکے | او په اختلاف | د شپے | او ورځے کښے | خامخا نخښے دی | د عقلمندو د پاره

کښے، او د شپے ورځے پرله پسے په تلو راتلو کښے هغه عقلمندو د پاره ډیرے نخښے دی

الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ

هغه خلق چه | یادوی | الله | په ولاړه | او په ناسته | او په خپلو اړخونو

چه په ولاړه، په ناسته او په اړخ (هر حال کښے) الله تعالیٰ یادوی.

وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا

او فکر کوي | په پیدا وښت کښې | دَ اسمانونو | او دَ زمکې | اے زمونږه ربه

او دَ اسمانونو او دَ زمکې په پیدا وښت کښې فکر کوي (او وائي) چه اے زمونږه ربه

مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾

نه دي پیدا کړي تا | دا | عبث | پاک یې ته | پس وساته مونږ | له عذاب | دَ اور نه ۔

دا عجیبه څیزونه تا بے فائدے نه دي پیدا کړي ته (دَ هر عیب نه) پاک یې پس مونږ دَ اور دَ عذاب نه بچ کړه ۔

رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ۭ وَمَا

اے زمونږه ربه! | بیشکه تا | چه څوک | داخل کړل | اور ته | پس بیشکه رسوا کړل تا هغوي | او نشته دے

اے زمونږه ربه! تا چه څوک په دوزخ کښې واچولو نو هغه تا ډیر رسوا کړو ۔ او دَ (دا سے)

لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا

دَ ظالمانو | څوک مددگار | اے زمونږه ربه! | یقیناً | مونږ واؤرېدلو | یو آواز کوونکے

ظالمانو دَ پاره څوک مددگار نشته ۔ اے زمونږه ربه! مونږ دَ یو آواز کوونکي آواز واؤرېدو چه چه

يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ڰ رَبَّنَا

چه بلنه کوي | ایمان طرف ته | چه | ایمان راوړئ | په خپل رب باندې | بیا مونږ ایمان راوړو | اے زمونږه ربه

دَ ایمان طرف ته بلنه کوله ، چه په خپل رب باندې ایمان راوړئ پس مونږ ایمان راوړو ، اے زمونږه ربه!

فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا

پس معاف کړه | مونږ ته | زمونږه گناهونه | او لرے کړه | مونږ نه | بدۍ زمونږه | او وفات کړه مونږ

زمونږه گناهونه وبخښه ، او زمونږ بدۍ زمونږ نه لرے کړه ، او دَ نیکانو دَ ډلې

مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾ رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ

دَ نیکانو سره | اے زمونږه ربه! | او راکړه مونږ ته | دَ هغه چه | تا وعده کړې ده مونږ سره | دَ خپلو رسولانو په ژبه باندې

سره مونږ خاتمه وکړه ۔ اے ربه زمونږه! کومه وعده چه تا مونږ سره دَ پېغمبرانو په ژبه کړې ده هغه راسره پوره کړه

وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾ فَاسْتَجَابَ

او مه رسوا کوه مونږ | په ورځ | دَ قیامت | بیشکه ته | خلاف نه کوے | دَ خپلې وعدے | پس قبوله کړه دُعا

او دَ قیامت په ورځ مو شرم پرده وساته ، بیشکه چه ته دَ خپلې وعدے خلاف نه کوے ، نو الله تعالی دَ

لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ

دَ هغوي | دَ هغوي رب | چه زه | نه | ضائع کوم | عمل | دَ هیڅ عمل کوونکي | له تاسو نه

هغوي دُعا قبوله کړه (او ورته ئے ووئیل) چه زه به تاسو کښې دَ هیچا عمل نه ضائع کوم

مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ

سړے دی | یا | ښځه | ځکه له تاسو له جنس دَ ځنو نه دی | بیا هغو خلقو چا چه

که نارینه وی او که زنانه ، تاسو ټول دَ یو بل جزو یئ ۔ نو هغه خلق کوم چه

هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ

هجرت ئې کړې | او وېستلے شول | دَ خپلو کورونو نه | او تکليف ورکړے شو هغوئ ته | په لاره زما کښے

هجرت ئې کړو او دَ خپلو کورونو نه ويستلے شوي دي او زما په لاره کښے ئے تکليفونه اوچت کړي دي

وَقٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ

او هغوي جنګ ئې کړې | او وژلے شول | زۀ به خامخا لرے کړم | دَ هغوئ نه | ګناهونه دَ هغوي | او خامخا به داخل کړم هغوئ

او کوم چه جنګ ئې کړے او ووژلے شول، زۀ به خامخا دَ هغوي ګناهونه معاف کړم او دا ئے باغونو ته به ئے

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

په جنتونو کښے | بهيږي به | دَ هغے نه لاندې | نهرونه | بدل له ده | له طرفه دَ الله نه

ور داخل کړم چه دَ هغے لاندې نهرونه بهيږي، الله سره دَ هغوي ثواب مقرر دے۔

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ

او هم الله سره دے | ښۀ | ثواب | او دوکه کښے دِ نۀ غورزوي تا | ګرځيدل راګرځيدل

او ښۀ ثواب هم دَ الله سره پروت دے۔ دَ هغو خلقو کوم چه دَ کفر لار اختيار کړے ده، په ملکونو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١٩٦﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۟ ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ

دَ کافرانو | په ښارونو کښے | دا فائده ده لږه | بيا | ځائے دَ هغوي دے

کښے (په عيش وعشرت سره) ګرځيدل راګرځيدل تا په دوکه کښے دِ نۀ غورزوي۔ دا دَ يو څو ورځو مزے دي بيا دَ هغو ټيکانړه

جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٩٧﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ

دوزخ | او خراب دے (هغه) | ځائے | ليکن | هغه خلق چه | اُو ويريدل | دَ خپل ربه | دَ هغوي دپاره

دوزخ دے، او هغه ډيره خرابه ټيکاونړه ده۔ ليکن څوک چه دَ الله نه ويريږي، هغوي له داسے باغونه

جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا نُزُلًا

جنتونه دي | چه روان دي | دَ هغے لاندې | نهرونه | هغوي به هميشه وي | په هغے کښے | ميلمستيا

تيار دي چه دَ هغے لاندې به نهرونه بهيږي، هغوي به هميشه پکښے اوسيږي۔ دا دَ الله

مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿١٩٨﴾ وَاِنَّ

له طرفه دَ الله نه | او څۀ چه | دَ الله سره دي | (هغه) ډير ښۀ دي | دَ نيکانو دَپاره | او بيشکه

دَ طرف نه ميلمستيا ده، او دَ الله تعالیٰ سره چه څۀ دي هغه دَ نيکانو دَپاره ډير ښۀ دي۔ او په

الثلثة

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ

دَ اهل کتابو نه | خو هغه (هم) دي | چه ايمان راوړي | په الله | او په هغه څۀ چه | نازل کړے شو

اهل کتابو کښے يقيناً داسے خلق هم دي کوم چه په الله تعالیٰ باندې او په هغه کتاب باندې کوم چه په تا

اِلَيْكُمْ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ

ستاسو طرف ته | او په هغه څۀ چه | نازل کړے شول | دَ هغوي طرف ته | عاجزي کوونکي | الله ته

نازل شوے او په هغه کتابونو کوم چه (له تا نه وړاندې) نازل شوي دي ايمان لري داسے چه الله تعالیٰ ته عاجزي کړي

لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ

نهٔ اخلی | په بدل د ایتونو د الله | قیمت | لږ | هم د هغوی د پاره دے | ثواب د هغوی

د خدائے ایتونه (د دنیا) په لږ قیمت نهٔ خرڅوی ، د هغو خلقو د پاره د هغوی د رب سره

عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا

د هغوی د رب سره | بیشکه | الله | زر حساب اخستونکے دے | اے د ایمان خاوندانو! | صبر وکړئ

اجر دے ، یقین وساتئ چه الله تعالیٰ ډیر زر حساب اخستونکے دے . اے مؤمنانو! صبر کوئ یو بل په

وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۟ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾

او محنت وکړئ په صبر کښے | او د جهاد د پاره تیار اوسئ | او وویریږئ | د الله نه | د پاره د دے چه تاسو | کامیاب شئ .

صبر آماده کوئ او خپل ځان د جهاد د پاره تیار ساتئ . او د الله تعالیٰ نه ویریږئ چه تاسو ته کامیابي حاصله شي .

سُوْرَةُ النِّسَاۗءِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعَةٌ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورۃ نساء په مدینه کښے نازل شوے او پکښ | شروع کوم په نامه د الله لوئے مهربان زیات رحم کوونکے دے | یو سل شپږ اویا ایتونه او ۲۴ رکوعګانې دي

شروع کوم د الله په نوم چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے .

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ

اے خلقو! | اُوویریږئ | د خپل رب نه | چا چه | پیدا کړئ تاسو | له یو کس نه

اے خلقو! د خپل رب نه اُوویریږئ چه تاسو ټول ئے د یو تن (آدم علیه السلام) نه پیدا کړئ

وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَاۗءً ۚ

او پیدا ئے کړه | د هغهٔ نه | د هغهٔ ښځه | او خوارهٔ ئے کړل | د هغو دواړو نه | سړی | ډیر | او ښځے

او هم د هغهٔ نه ئے د هغهٔ جوړه (بی بی حوا) پیدا کړه او بیا د دے دواړو نه ئے ډیر سړی او ښځے (د زمکے په مخ) خوارهٔ کړل

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَاۗءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

او اُوویریږئ | د الله نه | چه سوال کوئ تاسو له یو بل نه د هغهٔ په نوم | او د رشتو نه | بیشکه | الله

او د الله نه اُوویریږئ چه د هغهٔ په نوم تاسو د یو بل نه خپل حقونه غواړئ او د خپلولئ د تعلقاتو (شلولو) نه ، بیشکه الله

كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ﴿۱﴾ وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا

دے | په تاسو | نګران | او ورکوئ | یتیمانو ته | د هغوی مالونه | او مهٔ | بدلوئ

په تاسو ټولو باندې نګران دے . او د یتیمانو مالونه هغوی ته واپس کوئ ، او بنهٔ څیز په خپل

الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ ۠ وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ۭ

ناپاکه | په پاکو | او مهٔ | خورئ | مالونه د هغوی | یو ځائے شوی | د خپلو مالونو

خراب څیز مهٔ بدلوئ او د هغوئ مالونه د خپلو مالونو سره (شریک) مهٔ خورئ

اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ﴿۲﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا

بیشکه هغه | دے | ګناه | لویه | او که چرے | تاسو سره ویره وی | چه تاسو به انصاف نهٔ کړے شئ

دا ډیره لویه ګناه ده . او که تاسو سره ویره وی چه د یتیمانو جینکو په حقله به انصاف

فِى الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ

دَ یتیمانو جینکو په حق کښې | نو په نکاح کړئ هغه | کومې چه | خوښې وي ستاسو | له نورو ښځو مـنه

ونه کړے شئ ، نو کومې نورې ښځې چه مو خوښې وي هغوئ دوه دوه

مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا

دوه دوه | او درے درے | او څلور څلور | بيا که چرې | تاسو سره ویره وي | چه تاسو به انصاف ونه کړے شئ

درے درے او څلور څلور په نکاح واخلئ ، نو که دا ویره درسره وي چه (د هغوئ په مینځ کښې

فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَلَّا

نو یوه ښځه | یا د وینځو سره چه | مالک وي پرې | ښي لاسونه ستاسو | دا | زیات نزدې دے (د دې نه) | چه مه

په) انصاف ونه کړے شئ نو یوه (ښځه درله بس ده) یا هغه وینځې چه ستاسو ملکیت وي د بې انصافۍ نه د بچ کیدو

تَعُوْلُوْا ۝۳ وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً فَاِنْ طِبْنَ

ظلم کوئ تاسو | او ورکوئ | ښځو ته | د هغوئ مهر | په خوشحالئ سره | بيا که چرې | هغه راضي وي

د پاره دا لار زیاته ښه ده ، او ښځو ته د هغوئ مهرونه په خوشحالئ ادا کوئ ، بيا که چرې هغوئ په خپله

لَكُمْ عَنْ شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ

تاسو ته (په پریښودو) | څه څیز | د هغې (مهر) نه | (د خپل) زړه نه | نو خورئ هغه

رضامندئ تاسو ته په هغې کښې څه پریږدي ، نو هغه ښه په مزه

هَنِیْٓــًٔا مَّرِیْٓــًٔا ۝۴ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ

په شوق سره | چه ځان پرې ښه موړ کړئ | او مه ورکوئ | بې عقلو ته | خپل مالونه | کوم چه | جوړ کړي دي الله

بې ضرره خورے شئ ، او ناپوهه کسانو ته خپل مالونه مه حواله کوئ کوم چه الله تعالیٰ ستاسو

لَكُمْ قِیٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ فِیْهَا وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا لَهُمْ

(سبب د) قدرېن ستاسو | او روزي ورکړئ هغوئ | له هغې نه | او داغونډ وئ هغوئ ته | او وایئ | هغوئ ته

د ګذران سبب ګرځولي دي او هغوئ له پکښې ډوډئ او جامه ورکوئ ، او هغوئ سره په نرمئ

قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝۵ وَابْتَلُوا الْیَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ

خبره | ښه | او ووازمایئ | یتیمان | تر دے چه | هر کله هغوی ورسي | (د) نکاح (عمر) ته

خبرے کوئ . او د یتیمانو ازمینت کوئ تر دے چه د نکاح عمر ته ورسي

فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَیْهِمْ اَمْوَالَهُمْ

بيا که چرې | معلومه شوه تاسو ته | له هغوی نه | هوښيارتيا | نو ورسوئ | هغوی ته | مالونه د هغوی

نو که تاسو پکښې لږ ډېر عقل پیا موندو ، نو د هغوئ مالونه هغوئ ته حواله کوئ

وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ یَّكْبَرُوْا وَمَنْ

او مه خورئ هغه | په فضول خرچئ | او په تلوار سره | (د دې نه) چه هغوی به لوئ شي | او څوک چه

او د هغوئ د لوئیدو د ویرے نه د مال په فضول خرچئ او په تلوار مه خورئ او څوک چه

كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ ۚ

دی | مالدار | نو پکار دی چه ځان وساتي | او څوک چه وی | محتاج | نو پکار دی چه وخوری | په ښه طریقه

دولتمند وی هغه له پکار دی چه هغه د یتیم د مال (نه) ځان وساتي او څوک چه محتاج وی هغه له پکار دی چه هغه په قدر د ضرورت

فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ

پس هر کله چه | ورکړئ تاسو | هغوی ته | د هغوی مالونه | نو ګواه نیسئ | په هغوی | او کافی دے | الله

د خوری، بیا هر کله چه یتیمانو ته خپل مالونه حواله کوئ، نو ګواهان پرے نیسئ، او (سم) حساب اخستو له خو (بوازے)

حَسِيبًا ﴿٦﴾ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ

حساب اخستونکے | سړو د پاره | برخه ده | له هغه څه نه چه پریښودو | پلار او مور | او خپلوانو

الله بس دے۔ د نارینوو هم په هغه مال کښے برخه حق (ده) چه مور او پلار او خپلوانو ئے پریښودے وی

وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ

او ښځو د پاره (هم) | برخه ده | له هغه څه نه چه پریښودو | پلار او مور | او خپلوانو

او د زنانو هم په هغه مال کښے برخه ده چه مور او پلار او (نورو) خپلوانو ئے پریښودے وی۔

مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَفْرُوضًا ﴿٧﴾ وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ

هغه لږ وی د هغه نه | یا ډیر | برخه | مقرر (ده) | او هر کله چه | حاضر شی | په تقسیم باندې

که لږ وی هغه مال او که ډیر وی، دا برخه (د الله د طرف نه) مقرر ده، او چه د تقسیم وخت له

أُولُو الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُمْ مِنْهُ

خپلوان | او یتیمان | او مسکینان | پس ورکړئ هغوی ته | د هغه نه

خپل خپلوان ۰ یتیمان او غریبان را حاضر شی، نو هغوی له هم پکښے څه ناڅه ورکړئ

وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا ﴿٨﴾ وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا

او وایئ | هغوی ته | خبره | ښه | او ویریدل پکار دی (الله نه) | هغو خلقو له | که چرے هغوی پریږدی

او هغوی سره په نرمئ سره خبرے کوئ، او هغو خلقو له پکار دی چه هغوی د دے خبرے نه وویریږی که چرے

مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ

له خپل ځان نه وروستو | اولاد | کمزورے | چه ووېریږی | په هغوی باندې | پس هغوی له ویریدل پکار دی د الله نه

هغوی د خپل ځان نه وروستو (هم داسے) کمزورے او بے وسه اولاد پریږدی نو هغوی به د هغوی په حقله څنګه فکر وی پس

وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ

او وئیل پکار دی | خبره | محکمه | بیشکه | هغه خلق چه | خوری | مالونه | د یتیمانو

هغوی له پکار دی چه هغوی د الله نه ویریږی او سمه پخه خبره کوی۔ څوک چه د یتیمانو مالونه په ناحقه خوری هغوی

ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾ ع ١٠ / ١٢

په ظلم سره | بیشکه چه | هغوی خوری | په خپلو خیټو کښے | اور | او زر ده چه هغوی داخل شی | دوزخ ته

نور څه نه کوی خو خپلے خیټے د اور نه ډکوی، او د دوزخ بل اور ته به زر واچولے شی۔

يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ ۚ

حکم کوی تاسو ته | الله | ستاسو د اولاد په حق کښې | چه د سړي برخه | برابر ده | د برخې | د دوو ښځو

ستاسو د اولاد په حقله درته الله تعالیٰ حکم کوی ، چه د یو نارینه برخه د دوو زنانو برابر ده ،

فَإِن كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ

بیا که چرې | وی | صرف جینکۍ | د دوو نه زیاتې | نو د هغوی د پاره دی | دوه برخې په دریو کښې | د ترکې نه

نو که چرې د مړي وارثانې دوه یا د دوو نه زیاتې زنانه وی نو هغوی له د په دریو کښې دوه برخې ورکړې شي

وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۚ وَلِأَبَوَيْهِ

او که چرې | هغه (ښځه) وی | هم یو | نو د هغې د پاره ده | نیمه | او د هغه د مور پلار د پاره

او که یوه زنانه (وارثه) وی ، نو هغې له د نیم مال ورکړے شي ، او که د مړي اولاد

لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ ۚ

په دواړو کښې هر یو ته | شپږمه برخه | د ترکې | که چرې | وی | د هغه | (نر) اولاد

وی نو د هغه په مور او پلار دواړو کښې هر یو له د شپږمه برخه ورکړے شي ،

فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ

بیا که چرې | نه وی | د هغه | (نر) اولاد | او د ده وارثان وی | د ده مور پلار | نو د هغه د مور د پاره

او که چرے اولاد ئې نه وی او مور پلار ئې وارثان شي نو د مور ئې دریمه

الثُّلُثُ ۚ فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ

دریمه برخه ده | بیا که چرې | وی | د هغه | وروڼه | نو د هغه د مور د پاره | شپږمه برخه ده

برخه مقرر ده ، او که چرے ورونړه خوینده ئې پاتې وی نو د مور ئې بیا شپږمه برخه کیږی

مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ

پس ز د ادا کولو | د وصیت نه | چه وصیت کړے وی مړی د هغې | یا د قرض | ستاسو پلاران | او ستاسو ځامن

دا ټول په هغه وخت کښې شي چه اول د مړي وصیت پوره کړے شي یا که قرض (پړ) وی نو هغه په اول ادا کړے شي . ستاسو مینه پلاران

لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۚ فَرِيضَةً

تاسو نه پوهیږئ چه | څوک په هغوی کښې | زیات نزدې دی | تاسو ته | په نفع (رسولو کښې) | (دا برخې) مقرر دی

او ستاسو ځامن نو دا چه دی نو تاسو نه پوهیږئ چه څوک درته په فائده رسولو کښې نزدې دی ، دا برخې

مِّنَ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١١﴾ وَلَكُمْ

د الله د طرف نه | بیشکه | الله | دے | پوهه | خاوند د حکمت | او تاسو د پاره ده

الله مقرر کړی دی ، بیشکه الله په هر څه پوهه او هر مصلحت نه واقف دے . او چه ستاسو

نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ

نیمه | د هغه (مال) کوم چه پریښودو | ستاسو ښځو | که چرې | نه | وی | د هغوی | (نر) اولاد

ښځې کوم مال پریږدی ، په هغې کښې ستاسو نیمه کیږی ، که چرې د هغوی اولاد نه وی .

فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ

بیا که چیرې | وي | دَ هغوئ | څه اولاد | پس ستاسو دَه | څلورمه برخه | دَ هغې چه | هغه پرېږدي

او که اولاد ئې پاتې وي نو (بیا) دَ هغوی په ترکه کښې ستاسو څلورمه برخه رسي

مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۚ وَلَهُنَّ

پس (دَ ادا کولو) | دَ وصیت نه | چه وصیت ئې کړے وي | دَ هغې | یا (پس دَ ادا کولو) دَ قرض | او دَ هغوی دَه

دا هله چه اول دَ هغوئ وصیت پوره کړے شي یا قرض ئې ادا کړے شي ، او ستاسو په پاتې

الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ

څلورمه برخه | دَ هغې چه | تاسو پرېږدئ | که چیرې | نهٔ وي | ستاسو (څهٔ) اولاد | بیا که چیرې | وي

مال کښې دَ هغوئ څلورمه برخه دَه ، که چرے ستاسو اولاد نهٔ وي ، او که ستاسو اولاد

لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ

ستاسو | (څهٔ) اولاد | نو هغوی دَ پاره دَه | اَتمه برخه | له هغه څهٔ نه چه | تاسو پرېږدئ

پاتې وي ، نو بیا ستاسو په ترکه کښې دَ هغوئ اتمه برخه کیږي

مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ

پس (دَ ادا کولو) | دَ وصیت نه | چه تاسو وصیت کړے وي دَ هغې | یا دَ قرض نه | او که چیرې | وي | (څوک) سړے

هله چه ستاسو وصیت اول پوره کړے شي یا قرض (که پاتې وي) ادا کړے شي . او که چرے یو سړے یا

يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ

دَ کوم میراث چه وي | کلاله | یا (څوک) ښځه (دا سې وي) | او دَ هغهٔ | ورور | یا | خور وي

یوه ښځه مړه شي چه نهٔ ئې مور پلار پاتې وي او نهٔ اولاد او یو ورور یا یوه خور ئې پاتې شي

فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَٰلِكَ

نو دَ پاره دَ هر یو | له هغوی نه | شپږمه برخه دَه | پس که چیرې | وي هغوی | زیات | له دے نه

نو هر یو ته به شپږمه برخه ورکړے شي ، او که ورونړه خویندے ئې دَ یو نه زیات وي

فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ ۚ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ

پس هغوی شریک دي | په دریمه برخه کښې | پس دَ ادا کولو دَ | وصیت نه چه وصیت ئې کړے شوے دَ هغې | یا

نو هغوی ټول به په دریمه برخه کښې شریک ګڼړلے شي دا هله چه وصیت (اول) پوره کړے شي یا قرض ادا کړے

دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ ۚ وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ

(پس دَ) قرض نه | (په شرط دَ دے چه په وصیت کښې) دَ چا نقصان نهٔ وي | حکم دے | دَ الله | او الله

شي خو چه (دغه وصیت یا قرض) دَ ضرر دَ پاره نهٔ وي ، دا دَ الله حکم دے او الله په هر څهٔ پوهه

عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿١٢﴾ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۚ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ

پوهه | دَ زغم خاوند دے | دا | حدونه دي | دَ الله | او څوک چه | حکم مني | دَ الله

او حلیم دے . دا دَ الله (مقررکړي) حدونه دي ، او څوک چه دَ الله او دَ هغهٔ دَ

وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

او دَ هغهٔ دَ رسول | هغه به داخل کړي | په جنتونو کښې | بهيږي به | دَ هغې لاندې | نهرونه | هغوی به هميشه وي

رسول حکمونه په ځائے کوي، هغوی به الله داسے باغونو ته داخل کړي چه دَ هغې لاندې به نهرونه بهيږي

فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٣﴾ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

په هغې کښې | او دا ده | کاميابي | ډيره لويه | او څوک چه | نافرماني کوي | دَ الله | او دَ هغهٔ دَ رسول

هميشه به په کښې وسيږي او هم دا ډيره لويه کاميابي ده. او څوک چه دَ الله او دَ رسول حکمونه ونه مني.

وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۪

او تيرشي | دَ هغهٔ دَ حدونو نه | هغه به داخل کړي | اور ته | (چه) هميشه به وي | په هغې کښې

او دَ الله دَ مقرر کړه حدونو نه وړاندې تيرشي، الله به هغه په دوزخ کښې داخل کړي چه هميشه به په کښې وي.

وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٤﴾ وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ ع ٢ ١٤

او هغهٔ ته به | عذاب وي | سپکوونکے | او کومے ښځے چه | کوي | بدکاري

او هغهٔ دَ پاره رسوا کوونکے عذاب مقرر دے. او ستاسو په زنانو کښې چه څوک بدکاري (زنا)

مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا

له ښځو ستاسو نه | نو گواهان راوغواړئ | په هغوی باندې څلور سړي | له خپلو نه | بيا که چرے هغوی گواهي ورکړه

وُکړي، نو په هغوی باندې دَ خپلو سړو نه څلور تنه گواهان نيسئ، نو که څلور تنه پرے گواهي ورکړي

فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ

نو بند کړئ هغوی | په خپلو کورونو کښې | تر هغې چه | اُو چتے کړي هغوی | مرگ | يا جوړه کړي

نو دا ښځے په کورونو کښے تر هغې بند کړئ چه مرگ ئے فنا کړي، يا الله ورله

اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿١٥﴾ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ

الله | هغوی له | څهٔ لار | او کوم دوه (ښځه سړے) چه | دا بدکار وکړي | له تاسو نه | نو تکليف ورسوئ هغوی ته

څهٔ بله لار راوُباسي. او په تاسو کښے کوم دوه کسان چه بدکاري وکړي نو تکليفونه ورله ورکړئ

فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا

نو که چرے | هغوی توبه وکړي | او اصلاح وکړي | نو مخ واړوئ | دَ هغوی نه | بيشکه | الله | دے | لوئے توبه قبلوونکے

نو که توبه وُباسي او خپل ځانونه سم کړي نو بيا هغوی پريږدئ. بيشکه الله توبه قبلوونکے

رَّحِيْمًا ﴿١٦﴾ اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ

ډير رحم کوونکے | بيشکه | توبه (قبلول ئې) | په الله باندې | دَ هغو خلقو دَ پاره دي چه | کوي

مهربان دے. يقيناً الله تعالیٰ توبه دَ هغو خلقو قبلوي چه بدکار په ناپوهئ

السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللّٰهُ

بدکار ونه | په ناپوهئ سره | بيا | توبه وکړي | زر | پس هم دا خلق دي | چه توبه قبلوي الله

سره وکړي، او بيا ډير زر توبه وُباسي، هم دا سے خلق دي دَ کومو توبه چه الله

عَلَيْهِمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧﴾ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ

دَ هغوی | او دے | الله | پوهه | دَ حکمت خاوند | او نشته دے | تو به

تبلوی . او الله په هر څهٔ پوهه او دَ هر مصلحت نه واقف دے . او دَ هغو خلقو توبه (څهٔ توبه) نشته

لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ

هغو خلقو د کوم چه | کوی | بد کارونه | تردے چه | حاضر شی | یو کس ته په هغوی کښے

چه لګیا دی ګناهونه کوی . تردے چه په هغوی کښے دَ چا دَ مرګ وخت

الْمَوْتُ قَالَ اِنِّیْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ

مرګ | (نو) هغه وُوائی | چه بیشکه ما | توبه وُکړه | اوس | او نهٔ هغه خلقو دَ پاره | چه مړهٔ شی

راشی نو دوائی (یاربه!) زهٔ اوس توبه کوم ، او نهٔ (توبه) دَ هغه چا دَ پاره ده چه

وَهُمْ كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٨﴾

او هغوی | کافران وی | هم دا دی | چه تیار کړے دے مونږ | هغوی له | عذاب | دردناک .

کافران مړهٔ شی دا هغه خلق دی کومو دَ پاره چه مونږ دردناک عذاب تیار کړے دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ

اے دَ ایمان خاوندانو! | حلال نهٔ دی | تاسو دَ پاره | چه | وارثان شئ تاسو | دَ ښځو | جبرًا

اے مؤمنانو ! تاسو له روا نهٔ دی چه په زبردستئ ځان دَ ښځو وارثان کړئ .

وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ

او | مهٔ منع کوئ تاسو هغوی | دَ پاره دَ دے چه واخلئ تاسو (څهٔ) په هغے کښے | کوم چه | ورکړل تاسو هغوئ ته | مګر

او نهٔ هغوی په دے خیال منع کوئ چه څهٔ تاسو هغوی له (یو څل) ورکړی وی دَ هغے څهٔ برخه واخلئ سوا دَ

اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ فَاِنْ

چه | هغوی وکړی | بد کاری | ښکاره | او ژوند تیروئ هغوی سره | په ښهٔ طریقه پس که چیرے

دے صورت نه چه هغوی ښکاره بد کاری وُکړی ، او ښځو سره په ښهٔ طریقه ګذران کوئ . که هغوی

كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ

تاسو نهٔ خوښوئ هغوی | نو (څهٔ) کیدے شی | چه نهٔ یه خوښوئ تاسو | یو څیز | او پیدا به کړی | الله | په هغے کښے

ستاسو خوښے نهٔ وی نو دا کیدے شی چه یو څیز ستاسو خوښ نهٔ وی ، او الله تعالیٰ تاسو له په هغے کښے ډیره

خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿١٩﴾ وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ ۙ

خیر | ډیر | او که چیرے | تاسو غواړئ | بدلول | ښځه | په ځائے دَ بلے ښځے

فائده ایښی وی او که تاسو د په ښهٔ طریقه ګذران نهٔ شئ کولے او) دَ یوے ښځے په ځائے بله ښځه بدلول غواړئ

وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْئًا ؕ

او تاسو ورکړے وی | یوے ته له هغوئ | ډیری مالونه | نو مهٔ | واپس اخلئ | له هغے نه | څهٔ څیز

او تاسو هغے یوے لره دولت ډیرے هم ورکړے وی نو هم ترے نه هیڅ څیز واپس مهٔ اخلئ .

أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٢٠﴾ وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ

ایا تاسو اخلئ هغه | په بهتان تړلو | او په ګناه ښکاره کاسره | او څنګه | تاسو اخستے شئ هغه

ایا تاسو دا غواړئ چه په بهتان تړلو او په ښکاره ظلم کولو باندې هغه مال واخلئ. او تاسو دا څنګه واپس اخستے

وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴿٢١﴾

او حال دا دے چه رسیدلی دی | ځینې له تاسو نه ځینو ته | او هغوی اخستے دے | له تاسو نه | اقرار | سخت

شئ، هر کله چه تاسو یو بل سره (د ښځے خاوند) لیدلی کاتلی کړی دی او هغوی له تاسو (د نکاح) پوخ قول او اقرار اخستے دے

وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ

او مه نکاح کوئ | کوم سره چه نکاح کړے وی | ستاسو پلارانو | له ښځو نه | مګر هغه څه چه | وړاندې تیر شول

او هغه ښځو سره هیڅ نکاح مه کوئ کوم سره چه ستاسو پلارانو نکاح کړے وی د دے (حکم) نه وړاندې چه څه وشو هغه د شو

إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ سَبِيلًا ﴿٢٢﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ

بیشکه دا خو | ډیره بے حیائی | او (د) غضب (خبره ده) | او بد دے | طریقه ده | حرام کړے شوے | په تاسو

دا ډیره د بے شرمئ، د نفرت خبره او ډیر خراب دستور دے. په تاسو باندې حرامے دی

أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ

ستاسو میندے | او ستاسو لونړه | او ستاسو خویندے | او ستاسو پلارانو خویندے | او ستاسو میندو خویندے | او وریرے

ستاسو میندے ، لونړه ، خویندے ، د پلارانو خویندے ، د میندو خویندے ، وریرے

وَبَنَاتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ

او خورزے | او ستاسو میندے | هغه چه تئ ئے درکړے دی تاسو ته | او خویندے ستاسو | چه له تی رودلو نه

خورزے ، او هغه میندے چه تئ ئے درکړے دی او د تی خویندے

وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَائِكُمُ اللَّاتِي

او میندے | د ښځو ستاسو | او ستاسو د ښځو لونړه | چه اوس (پالنے کیږی) ستاسو په غیږ کښے | چه ستاسو د هغه ښځو نه پیدا دی

او خواښیانے ، او پرکتئ چه ستاسو په پرورش کښے اوسیږی د هغو ښځو نه چه تاسو

دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

چه صحبت کړے دے تاسو | د هغوی سره | پس که چرے | نه وی کړے | تاسو د هغوی سره صحبت | نو څه ګناه نشته | په تاسو

ورسره کوروالے کړے دی، نو که کوروالے مو ورسره نه وی کړے، نو بیا (پرکتئ) سره په نکاح کولو کښے هیڅ ګناه نشته

وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَن تَجْمَعُوا

او ښځے | د ځامنو ستاسو | هغه ځامن چه | له ملا ځانو ستاسو نه دی | او (دا) چه | تاسو جمع کړئ (نکاح کښے)

او ستاسو د خپلو حقیقی ځامنو ښځے (هغه هم په تاسو حرامے دی) او دا هم چه په یو وخت کښے دوه خویندے

بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٣﴾

په مینځ د دوه خویندو | مګر کوم چه | د دے نه وړاندې تیر شول | بیشکه الله | دے | بخښونکے | مهربان

یوځائے (په نکاح) کړئ او چه څه تیر شو هغه تیر شو، بیشکه الله بخښونکے مهربان دے.

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ اللّٰهِ

او خښتندارے | ښځے | مګر هغه وينځے چه ستاسو په ملکيت کښے وي | حکم دے | د الله

او هغه ښځے (هم په تاسو حرامے دي) چه د نورو په نکاح کښے وي سوا د هغو ښځو نه چه ستاسو وينځے وي دا د الله قانون دے چه

عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ

په تاسو | او حلال کړے شوے | تاسو د پاره کومے چه علاوه | د دے نه دي | چه تاسو طلب وکړئ | په مالونو خپلو سره

په تاسو لازم کړے شوے، د دے نه سوا څومره ښځے چه دي هغه تاسو له حلالے دي چه مال خرچ کړئ او په نکاح کښے

مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ۗ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ

د نکاح کونکو په توګه | نه چه د شهوت پوره کونکو په توګه | بيا د کومے نه چه تاسو فائده واخستله | د هغو ښځو نه | پس ورکړئ هغوي ته

راولئ، دا نه چه تش شهوت پوره دفعه کړئ، بيا د کومو ښځو نه چه تاسو څه فائده اوچته کړئ نو د دے په بدله کښے

اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ۗ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ

د هغوي مهر | مقرر کړے شوے | او نشته ګناه | په تاسو | په هغه کښے چه راضي شوئ تاسو يو بل سره په هغے باندے | پس

د هغوي مقرر مهر هغوي له ورکړئ. او د مهر مقررولو نه پس که تاسو په څه (کمي زياتي) باندے په خپل مينځ کښے رضا شوئ

الْفَرِيْضَةِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ

د مقرر مهر نه | بيشکه | الله | دے | پوهه | د حکمت خاوند | او څوک چه | نه لري

نو په دے کښے څه ګناه نشته، بيشکه الله تعالیٰ پوهه او د حکمت خاوند دے. او په تاسو کښے چه څوک دا توفيق

مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

له تاسو نه | طاقت | چه | په نکاح کړي | آزادے مؤمنانے | ښځے

نه لري، چه آزادے مسلمانانے ښځے په نکاح واخلي، نو هغه

فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ۗ وَاللّٰهُ

نو (هغوي د نکاح دے وکړي) هغو (وينځو) سره د کومو چه تاسو مالکان يئ، له ستاسو مؤمنانو وينځو نه | او الله

مسلمانانو وينځو سره د نکاح دے وکړي، چه ستاسو لاس ته راغلي دي. او الله ته ستاسو د

اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ۗ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ

ښه پوهه دے | په ايمان ستاسو | ځنے ستاسو له جنسه د ځينو نه دي | پس نکاح وکړئ هغوي سره | په اجازت | د مالکانو د هغوي

د ايمان حال ډير ښه معلوم دے (د انسانيت په لحاظ سره) تاسو يو بل د جنس يئ، نو هغوي سره د مالکانو په اجازت

وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا

او ورکړئ هغوي ته | مهر د هغوي | د دستور مطابق | چه پاکدامنے وي | نه زنا کونکے دي | او نه

نکاح وکړئ او د رواج مطابق ورته مهر نه ادا کړئ، په دے صورت کښے چه هغه پاکدامنے وي بدکارے نه وي

مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ

په پټه آشنايان نيوونکے دي | بيا که چرے هغوي نکاح وکړي نو که چرے هغوي وکړي | بدکاري | نو په هغوي ده

او نه پټ پټ آشنايان نيسي، نو هر کله چه دا (وينځے) ښځے په نکاح کښے راشي، نو که بيا ئے بدکاري وکړه نو هغوي

نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ۚ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ

نیمه سزا | دَ هغې چه | په آزادو ښځو ده | سزا | دا | دَ هغه چا دَ پاره دَ چه ویریږي

دَ آزادو ښځو په نسبت نیمه سزا مقرره ده ، دا آسانی هغه چا ته ورکړے شوے ده

الْعَنَتَ مِنْكُمْ ۚ وَأَنْ تَصْبِرُوا خَيْرٌ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢٥﴾

دَ ګناه نه | له تاسو نه | او که صبر وکړئ | نو ډیر ښه دے | تاسو له | او الله | بخښونکے | مهربان دے

چه دَ زنا اندیښنه ورسره وی او که تاسو ځان قابو کړئ نو دا درله غوره ده او الله بخښونکے مهربان دے۔

يُرِيدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ

غواړي | الله | چه بیان کړي | تاسو دَ پاره | او ښائی تاسو ته | لارے | دَ هغه کسانو | چه له تاسو وړاندے وو

الله دا غواړي چه تاسو ته خپل حکمونه واضحه کړي او په هغه لارے مو بوځي چه تاسو نه وړاندے (نیکان خلق) پرتګ دو۔

وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾ وَاللّٰهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ

او رحم وکړي | په تاسو | او الله | پوهه | دَ حکمت خاوند دے | او الله | غواړي | چه رحم وکړي

او په تاسو باندے رحم وکړي او الله په هر څه پوهه او هر حکمت نه خبر دے۔ او الله خو غواړي چه تاسو باندے رحم

عَلَيْكُمْ ۖ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوٰتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا

په تاسو | او غواړي | هغه خلق | چه پیروی کوي | دَ شهوتونو | چه تاسو واوړئ (دَ حق نه) | اوړیدل

وکړي ۔ او څوک چه په خپلو خواهشاتو پسے ګرځي هغوئ دا غواړي چه تاسو (دَ سمے لارے نه) ډیر لرے

عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ

دَ حد نه زیات۔ | غواړي الله | چه هغه کم کړي | له تاسو نه (پیټے) | او پیدا کړے شوے دے | انسان

پریوځئ۔ الله تعالیٰ غواړي چه په تاسو باندے پابندئ کمے کړي ۔ ځکه چه انسان کمزورے پیدا

ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ

کمزورے | اے دَ ایمان خاوندانو | مه خورئ | خپل مالونه | په خپل مینځ کښے

شوے دے۔ اے مؤمنانو ! په خپل مینځ کښے دَ یو بل مالونه په ناحقه مه

بِالْبَاطِلِ إِلَّآ أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ ۚ

په ناحقه | مګر | چه | وی | تجارت | په رضامندی سره | ستاسو مینځ کښے

خورئ ، مګر چه لین دین په رضامندئ سره وشي (نو خیر دے)

وَلَا تَقْتُلُوٓا أَنْفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾

او مه وژنئ | خپل ځانونه | بیشکه | الله | دے | په تاسو | ډیر رحم کوونکے

او (په خپل مینځ کښے) یو بل مه وژنئ۔ بیشکه الله تعالیٰ په تاسو ډیر مهربان دے۔

وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ

او څوک | چه وکړي | دا | په سرکشئ | او ظلم سره | پس زر ده چه مونږ به داخل کړو هغه

او څوک چه په ظلم زیاتی داسے کارونه کوي ، نو مونږ به ئے دَ دوزخ اور ته

نَارًا ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝٣٠ اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ

اور ته ، | او دی | دا | الله ته | اسان | که چیرې | تاسو ځان وساتئ | له لویو ګناهونو نه

وغورځوو او دا کار الله ته هیڅ ګران نه دے. که تاسو د هغو لویو لویو ګناهونو نه پرهیز

مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ

د کومو نه چه تاسو منع کولے شئ | نو مونږ به لرے کړو | له تاسو نه | ستاسو واړه ګناهونه | او مونږ به داخل کړو تاسو

وکړئ د کومو نه چه منع کړے شوی یئ نو مونږ به ضرور ستاسو (وړے وړے) غلطیانے معاف کړو، او د عزت

مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ۝٣١ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ

ځائے | د عزت ته | او تمنا مه کوئ تاسو | د هغه څه | چه فضیلت ورکړے دے الله | په هغے سره | ستاسو ځینو ته

ځائے ته به مو ننباسو . او الله تعالیٰ چه په تاسو کښے یو له په بل باندې کوم فضیلت ورکړے دے د هغے په

عَلٰى بَعْضٍ ۭ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ۭ وَلِلنِّسَآءِ

په ځینو باندې | سړو له | حصه ده | له هغه څه نه | چه هغوی وګټل | او ښځو د پاره (هم)

حقله ارمان ونکړئ. سړو چه په خپل عمل څه ګټلی دی هغه د هغوی برخه ده او ښځو چه په خپل کوشش

نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۭ وَسْـَٔـلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

حصه ده | له هغه څه نه | چه هغوی وګټل | او غواړئ | له الله نه | د هغه د فضل | بیشکه | الله

څه ګټلی دی، هغه د هغوئ نصیب ده، او د الله نه د هغه د فضل وکرم سوال کوئ. بیشکه الله تعالیٰ

كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝٣٢ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ

دے | په ټولو څیزونو باند | پوهه | او د هر څیز د پاره | مقرر کړی دی مونږ | وارثان

په هر څه پوهه دے . او کوم مال چه مور پلار او (نور) خپلوان پریږدی

مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ۭ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ

د هغه مال چه پریښودو | مور پلار | او نږدے خپلوانو | او هغه خلق (کوم وګړو چه) | تړلی دی | سوګندونو ستاسو

نو مونږ هر یو له وارثان مقرر کړی دی، او چا سره چه تاسو لوظونه کړی دی

فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ۝٣٣

پس ورکړئ هغوئ ته | د هغوی حصه | بیشکه الله | دے | په هر څیز باندې | ګواه .

نو هغوی له هم خپله خپله برخه ورکړئ، بیشکه الله تعالیٰ په هره خبره باندې ګواه دے

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَي النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ

سړی | نګرانان دی | په ښځو باندې | په سبب د هغے چه فضیلت ورکړو الله | ځینو له

سړی په ښځو باندې نګرانان دی، ځکه چه الله تعالیٰ یو تولی له په بل باندې فضیلت

عَلٰي بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ۭ فَالصّٰلِحٰتُ

په ځینو باندې | او په سبب د هغے | چه هغوی خرڅ کړی دی | له خپلو مالونو نه | پس نیکے ښځے

ورکړے دے او ځکه چه سړو (په ښځو باندې) خپل مالونه خرڅ کړی دی، نو کومے نیکے ښځے چه نیکانے

قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ۗ وَالّٰتِيْ

وې فرمانبرداره | حفاظت کوونکې | پس شا (پټې شا) | د الله په حفاظت سره | او هغه ښځې

دي هغوی حکمونه مني او د خاوند په غیر حاضرۍ کښې د هغه څیزونو حفاظت کوي کوم چه الله محفوظ کړي

تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ

چه تاسو ویره وی | د هغوی د نافرمانۍ | نو نصیحت وکړئ هغوی ته | او جدا کړئ هغوی | په بسترو کښې

دي او د کومو ښځو د سرکشۍ چه اندیښنه درسره پیدا شي نو اول ورته نصیحت وکړئ او بیلې ځان له په جدا

وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ۗ

او ووهئ هغوی | پس که چرې هغوی فرمانبرداري وکړه ستاسو | نو مه تلاش کوئ | په هغوی باندې | څه لار -

بسترو څملوئ او (که بیا هم نه مني نو) هغوی ووهئ او که چرې ومني نو بیا د هغوی خلاف سختي مه کوئ.

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ٣٤ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ

بیشکه | الله | دے | ډیر اوچت | د لوئې شان خاوند | او که چرې | تاسو سره ویره وي | د مخالفت

او دا یقین لرئ چه الله تعالیٰ ډیر اوچت او ډیر لوئې ذات دے. او که چرې دا اندیښنه مو پیدا شي چه د

بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا

د هغو دواړو (ښځه خاوند) په مینځ کښې | نو تاسو مقرر کړئ | یو منصف | له خپلوانو د هغه نه | او یو منصف

ښځې خاوند ترمینځه بې اتفاقي ده، نو یو ثالث د خاوند د کورنۍ نه او یو د ښځې د کورنۍ نه

مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ۗ

له خپلوانو د هغې نه | که چرې هغوی دواړه غواړي | اصلاح کول | نو موافقت به راولي الله | په دواړو کښې

مقرر کړئ، که هغوی دواړه جوړښت غواړي، نو الله به ورله د موافقت لار راوباسي،

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ٣٥ وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا

بیشکه | الله | دے | پوهه | خبردار ، | او عبادت کوئ | د الله | او شریک مه جوړوئ

بیشکه الله تعالیٰ ښه پوهه او په هرڅه خبر دے. او یوازې د الله تعالیٰ عبادت کوئ او هیڅوک ورسره

بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى

هغه سره | هیڅ څیز | او د پلار او مور سره | نیکي کوئ | او د خپلوانو سره | او د یتیمانو سره

شریک مه جوړوئ او (په کار ده) چه تاسو مور پلار سره، خپلو خپلوانو سره، او یتیمانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ

او د مسکینانو سره | او د ګاونډیانو سره چه خپلوان دي | او د هغه ګاونډیانو سره چه پردي دي

او مسکینانو سره، او ګاونډیانو سره که خپلوان دي او که پردي دي.

وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۗ

او ملګرو سره چه په څنګ کښې درسره ناست وي | او د مسافر سره | او غلامانو سره د کومو چه تاسو مالکان یئ

او د ناستې پاستې ملګری سره، او مسافر سره او د (هغه وینځو او مریانو سره) چه ستاسو په قبضه کښې وي

إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾ الَّذِينَ
بیشکه | الله | نهٔ خوښوی | هغه څوک چه | وی | کبرژن | فخر کوونکے | هغه خلق چه
نیکی و کړئ بیشکه کبرژن لاپو بنده دَ الله تعالیٰ خوښ نهٔ وی۔ هغه خلق چه
يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَآ
شومتیا کوی | او حکم کوی | خلقو ته | دَ شومتیا | او پټوی | هغه څهٔ چه
شومان وی او نورو ته دَ شومتیا تعلیم ورکوی ، او الله تعالیٰ چه ورته په
اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۗ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِينَ عَذَابًا
ورکړی وی هغوی ته | الله | له خپل فضل نه | او تیار کړے دے موږ | کافرانو دَ پاره | عذاب
خپل فضل وکرم څهٔ (مال) ورکړے دے هغه پټوی، او موږ کافرانو له سپکوونکے عذاب تیار
مُّهِينًا ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ يُنْفِقُونَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ وَ
سپکوونکے۔ | او هغه خلق چه | خرڅ کوی | خپل مالونه | دَ ښودنے دَ پاره | خلقو ته | او
کړے دے ۔ او هغه خلق (هم دَ الله تعالیٰ خوښ نهٔ وی) چه خپل مالونه دَ نوم ناموس دَ پاره لګوی او
لَا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۗ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ
ایمان ئے نه وی | په الله باندې | او نهٔ | په ورځ | دَ آخرت | او هغه څوک | چه وی | شیطان
په الله تعالیٰ او په ورځ دَ آخرت ایمان نهٔ لری ، او رښتیا خبره داده چه شیطان
لَهٗ قَرِينًا فَسَآءَ قَرِينًا ﴿٣٨﴾ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ
دَ هغهٔ | ملګرے | پس هغه بد | ملګرے دے۔ | او څهٔ زیان به وُو په هغوی | که هغوی ایمان راوړے | په الله
دَ چا ملګرے شی نو هغه ډیر خراب ملګرے دے ۔ او دَ هغوی به څهٔ تاوان شوے وو که په الله تعالیٰ او
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۗ
او (په) ورځ | دَ آخرت | او خرڅ کولے هغوی | له هغه څهٔ نه | چه ورکړی دی هغوی ته | الله
په ورځ دَ آخرت ئے ایمان راوړے وے او څهٔ چه الله تعالیٰ ورکړی دی دَ هغے نه ئے (دَ الله په لار کښې) خرڅ کولے.
وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيمًا ﴿٣٩﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ
او دے | الله | په هغوی باندې | پوهه ۔ | بیشکه | الله | ظلم نهٔ کوی | برابر | دَ ذرے
او الله تعالیٰ ته دَ هغوی حال ډیر ښهٔ معلوم دے ۔ بیشکه الله تعالیٰ په چا دَ ذرے هومره ظلم (هم) نهٔ کوی۔
وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا
او که چرے | وی | نیکی | (نو) دوچنده به کړی هغه | او ورکړی به | له خپل طرف نه | اجر
او که څوک یوه نیکی وکړی نو هغه ورله په څو چنده زیاته کړی او دَ خپل طرف نه ورله ډیر لوئے
عَظِيمًا ﴿٤٠﴾ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَّجِئْنَا
ډیر لوئے ۔ | په څهٔ (حال) به وی | هر کله چه راولو موږ | له هر اُمت نه | یو ګواه | او راولو موږ
اجر ورکړی۔ نو هغه وخت به دوی څهٔ کوی چه موږ به دَ هر اُمت نه یو یو ګواه راولو او دَ دے خلقو

بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

تا | په دې (اُمت) | ګواه . | په دغه ورځ به | غواړي | هغه خلق | کوم چه کفر وکړو

د پاسه به تا ګواه کړې ، به هغه وخت کښې چا چه کفر کړې دی .

وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ؕ وَلَا يَكْتُمُوْنَ

او نافرماني ئې وکړه | د رسول | کاش چه هواره کړې شي | په هغوی باندې | زمکه | او نه به شي پټولې

او د رسول نافرماني ئې کړې دې هغوی به په هغه ورځ تمنا کوي چه کاش دوی په خاوره کښې پوټ کړې شي او هلته به

اللّٰهَ حَدِيْثًا ﴿٤٢﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ

د الله نه | هېڅ خبره . | اے د ایمان خاوندانو! | مه نزدې کیږئ | مونځ ته

د الله نه هېڅ يوه خبره پټه نه کړے شي ، اے مؤمنانو! چه په نشه کښې يئ نو مونځ ته مه نزدې

وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا

په دې حال کښې چه يئ تاسو | په نشه کښې | تر دې چه | تاسو پوهېږئ | په هغه څه | چه تاسو ئې وايئ | او نه

کيږئ ، ترڅو چه تاسو ته معلومه نه وي چه تاسو (په مونځ کښې) څه وايئ او (دغشې)

جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ

د جنابت په حالت کښې | مګر | چه | مسافر يئ | ترڅو چه | تاسو غسل ونه کړئ | او که چرې تاسو يئ

د جنابت په حالت کښې (مونځ مه کوئ) ترڅو چه مو غسل نه وي کړې سوا د سفر د حالت نه ، او که چرې تاسو بيمار

مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ

بيمار | يا | (يئ) په سفر | يا راشي | يو کس | له تاسو نه | د ضرورت د ځاے نه

يئ يا په سفر يئ يا په تاسو کښې څوک د اودس ماتي نه واپس راشي يا تاسو

اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا

يا مباشرت وکړئ | د ښځو سره | بيا نه | مومئ تاسو | اوبه | نو قصد (تيمم) وکړئ | د خاورے

د ښځو سره نزديکت وکړئ او اوبه ونه مومئ نو پاکه خاوره باندې تيمم

طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

پاکے | پس مسح وکړئ | د خپلو مخونو | او د خپلو لاسونو | بيشکه | الله | دے

وکړئ او په خپلو مخونو او لاسونو مسح وکړئ . بيشکه الله تعالىٰ نرمي

عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿٤٣﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا

معاف کوونکے | بخښونکے . | آيا نه دي کتلي تا | هغو خلقو ته کوم ته | چه ورکړے شوه | يوه حصه

کوونکے بخښونکے دے . آيا تا د هغو خلقو حالت نه دے ليدلے ، چه د کتاب (د علم)

مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا

له کتاب نه | هغوی اخلي | ګمراهي | او هغوی غواړي | چه تاسو هم بې لارې شئ

نه ورته يوه غټه برخه ورکړے شوے وه او بيا هم د ګمراهۍ خريداران دي او دا غواړي چه تاسو هم د حق لارے

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

السَّبِيْلَ ﴿٤٤﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآىِٕكُمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ

دَ حق لارے نه | او الله | ښه پوهه دے | ستاسو په دښمنانو | او کافي دے | الله | دوست

بے لارے شئ، او الله ستاسو دښمنان ډیر ښه پیژني، او هم دَ الله تعالیٰ ملګرتیا او

وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ﴿٤٥﴾ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ

او بس دے | الله | مدد ورکوونکے | ځنې دَ هغوی نه | چه یهود دی | بدلوی | کلام

مدد تاسو له کافي دے. ځوک چه یهودیان شوی دی په هغوی کښې ځنې خلق لفظونه دَ ځپلو

عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ

دَ ځپے دَ ځایونو نه | او وائي هغوی | مونږ واوریدل | او مونږ ونه منل | او واوره | ته دِ هیڅ واونه رے

مناسبو ځایونو نه اړوی راړوي، او (چه ستا ملاقات له راشی نو) وائي مونږ واوریدل او مونږ نه منو او واوره (اے نبی)

وَّرَاعِنَا لَيًّۢا بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى الدِّيْنِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ

او (وائي) رَاعِنَا | تاوَوي ځبره | په ځپلو ژبو | او تونس کوی | په دین کښې | او که چرے هغوی

الله دِ درته واونه روی او رَاعِنَا ژبه پړکے تاوَراتاوکړی او دَ دین خلاف تونسونه وکړی او که دَ دے (خرابو) په

قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَ اسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا

دے ویلے | چه واوریدل مونږ | او ومنل مونږ | او | واوره | او نظر وکړه مونږ ته | نو وے به ډیره ښه به وه

ځائے دوی دا ویلے چه سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا او اِسْمَعْ وَانْظُرْنَا نو دا به ورله بهتره وه، او

لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ

هغوی له | او زیاته درسته | لیکن | لعنت کړے دے په هغوی | الله | دَ هغوی دَ کفر په وجه

دَ موقع مطابق ځبره به وه، لیکن (حقیقت دا دے) چه دَ هغوی دَ (پرده پسے) کفر په وجه الله تعالیٰ په هغوی لعنت

فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٤٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا

پس هغوی ایمان نه راوړی | مګر لږ | اے | اهل | کتابو! | ایمان راوړئ

وکړو، پس د ډیرو لږ تعداد نه سوا به دا خلق ایمان نه راوړی، اے اهل کتابو! زمونږ دا نازل کړے

بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ

په هغه څه چه | نازل کړے دے مونږ | تصدیق کوونکے | دَ هغه څه چه | تاسو سره دے | وړاندې دَ دے نه | چه

کتاب ومنئ کوم چه ستاسو دَ کتاب تصدیق کوی، دَ دے نه وړاندې چه مونږ

نَّطْمِسَ وُجُوْهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰٓى اَدْبَارِهَآ اَوْ نَلْعَنَهُمْ

مونږ وران کړو | مخونه | بیا ئې وګرځوو هغه | دَ هغوی دَ شاګانو طرف ته | یا | مونږ لعنت وکړو په هغوی

مخونه په بدله ګونه کړو، او شا غاړے ته ئې وګرځوو، یا پرے دا سے لعنت ووروو

كَمَا لَعَنَّآ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿٤٧﴾

لکه چه | لعنت کړے وو مونږ | په خاوندانو دَ خالی دَ ورځے | او دے | حکم دَ الله | پوره شوے

لکه دَ سبت په خاوندانو چه مو وَرولے وو، او دَ الله تعالیٰ حکم خامخا په ځائے کیږی.

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ

بیشکه | الله | نه معاف کوی | چه شریک دِ ونیسی | دَ هغهٔ سره | او معاف کوی | هغه چه | سوا

الله خو بس یو شرک نهٔ معاف کوی او دَ دے نه علاوه هر څومره ګناهونه چه چاته غواړی نو

ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى

له دے نه دی | هغه چاته چه وغواړی ، | او څوک چه | شریک ونیسی | دَ الله سره | بیشکه وتړلو هغهٔ (په الله باندې)

معاف کوی ، او چا چه الله سره شریک جوړ کړو نو هغهٔ ډیر غټ دروغ جوړ کړل او لویه ګناه

إِثْمًا عَظِيْمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ أَنْفُسَهُمْ ۭ

دروغ | ډیر لوئے | ایا نهٔ دی کتلی تا | هغه خلقو ته | چه پاک ګڼړی | خپل ځانونه

ئے وکړه ۔ ایا تا دَ هغو خلقو حالت نهٔ دے کتلے چه دَ خپلے پاکدامنی په خپله تعریف کوی

بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿٤٩﴾ اُنْظُرْ

بلکه الله | پاکوی | هغه څوک چه وغواړی | او په هغوی به ظلم نهٔ شی کولے | دَ تار (برابر) | وګوره ته

بلکه الله چه دَ چا په حقله وغواړی نو پاک دامن ئے کړی ، او په هغوی به دَ یو تار قدرے زیاتے هم نه کیږی . وګوره

كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ۭ وَكَفٰى بِهٖٓ إِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٥٠﴾

چه څنګه | هغوی تړی | په الله باندې | دروغ | ، او بس دهٔ | دا | ګناه | ښکاره ۔

دا خلق څنګه په الله تعالیٰ باندې دروغ تړی ۔ او دَ دوی دَ ښکاره مجرمتیا په حقله دا یوه ګناه کافی ده

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ أُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ

ایا نهٔ دی کتلی تا | هغه خلقو ته | چه ورکړے شوے ده هغوی ته | حصه | له کتاب نه | هغوی ایمان راوړی

ایا تا هغو خلقو طرف ته نهٔ دی کتلی کوم ته چه دَ الله دَ کتاب (نه دَ علم) څهٔ حصه ورکړے شوے ده (دَ دے باوجود)

بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ

په بُتانو | او شیطان باندې | او وائی | هغو خلقو ته | چه کافران دی | چه دا خلق

هغوی په بُتانو او شیطانانو ایمان راوړی ، او دَ کافرانو په حقله وائی چه دا خلق دَ مسلمانانو

أَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ﴿٥١﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

زیات درست دی | دَ مؤمنانو په نسبت | دَ لارے (په لحاظ) | هم دا | هغه خلق دی چه

په نسبت په ډیره ښهٔ لار روان دی ۔ هم دا خلق دی په کوم چه الله تعالیٰ لعنت

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ﴿٥٢﴾

لعنت کړے ئے په دوی | الله | او په چا چه | لعنت وکړی الله | پس هیڅ کله به ته بیا نهٔ مومے | هغهٔ دپاره | مدد ګار ۔

وَرولے دے ، او په چا چه الله تعالیٰ لعنت وَروی نو هیڅوک به دَ هغهٔ مدد ګار بیا نهٔ مومے .

أَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ نَقِيْرًا ﴿٥٣﴾

ایا هغوی له شته | څهٔ حصه | له بادشاهئ نه | پس هغه وخت به ورنه کړی هغوی | خلقو ته | پوټے هم

ایا دَ هغوی (دَ الله) په بادشاهت کښے څهٔ حصه شته ؟ (که چرے داسے وے) نو هغوی به خلقو ته دَ یوے برابر څیز هم نهٔ وو ورکړے

أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلٰى مَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ

آیا هغوی حسد کوی | خلقو سره | په هغه څه چه | ورکړے دے هغوی ته الله | له خپل فضل نه

یا الله تعالیٰ چه په خپل فضل سره خلقو ته څه ورکړی دی په دے باندې هغوی حسد کوی۔

فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا

پس بیشکه | ورکړے دے مونږ | آل د ابراهیم ته | کتاب | او پوهه | او ورکړے ده مونږ هغوی ته | بادشاهی

مونږ د ابراهیم علیه السلام خاندان ته کتاب او حکمت ورکړے دے او لویه بادشاهی مو ورته هم بخښلے

عَظِيْمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۚ

لویه | پس په هغوی کښې | چا خو ایمان راوړو په هغه | او په هغوی کښې | څوک منع شو | له هغه نه

وه۔ نو بیا په هغوی کښې چا خو ایمان راوړو او چا ترے نه مخ ګرځولو۔

وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿٥٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا

او کافی دے | دوزخ | بلیدونکے اور | بیشکه | کوم خلق چه | انکار وکړو | زمونږ د آیتونو نه

او د دوزخ ګرم اور ورله کافی دے۔ بیشکه چا چه زمونږ آیتونو منلو نه انکار کړے دے

سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ۭ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ

زر ده چه | مونږ به داخل کړو هغوی | دوزخ کښې | هر کله چه | وسوزی | څرمنے د هغوی

ډیر زر به مونږ هغوی د دوزخ اور ته ورغورزوو، هر کله چه د هغوی څرمنے وسوزی، نو مونږ به

بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

نو مونږ به بدل کړو هغوی ته | څرمنے | نورے له هغے نه | د دے د پاره چه هغوی وڅکی | عذاب | بیشکه | الله

ورته نورے څرمنے ورواغوندوو، چه هغوی د عذاب خوند وڅکی، بیشکه الله تعالیٰ ډیر

كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿٥٦﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

دے | زبردست | د حکمت خاوند | او هغه خلقو چه | ایمان ئے راوړو | او ئے کړل عملونه | نیک

غالب او د حکمتونو خاوند دے۔ او هغه خلق چه ایمان ئے راوړو او هغوی نیک عمل هم وکړو

سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ

مونږ به هغوی داخل کړو | په جنتونو کښې | چه بهیږی | د هغے لاندې | نهرونه | همیشه به وی هغوی په هغے کښې

مونږ به ډیر زر هغوی داسے باغونو ته داخل کړو چه د هغے لاندې به نهرونه بهیږی کوم ځائے چه به هغوی

لَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۡ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ﴿٥٧﴾

هغوی له دی | په هغے کښې | بیبیانے | پاکے | او مونږ به داخل کړو هغوی | د راحت سیوری ته

همیشه وی، هلته به هغوی د پاره پاکے بیبیانے وی او مونږ به ډیر ګڼ سیوری کښے هغوی له ځائے ورکړو

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ

بیشکه | الله | حکم درکوی تاسو ته | چه ادا کړئ تاسو | امانتونه | د هغے مالکانو ته

(مسلمانانو!) الله تعالیٰ تاسو ته حکم درکوی چه امانتونه خپلو مالکانو ته واپس ادا کوئ،

الربع

وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ

او هركله چه فيصله كوئ تاسو | په مينځ | د خلقو كښې | نو فيصله كوئ | په انصاف سره | بيشكه

او هركله چه د خلقو ترمينځه فيصله كوئ نو په عدل او انصاف سره ئې فيصله كوئ، يقيناً

اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا

الله | ډير ښه | نصيحت كوى تاسو ته | په دې سره | بيشكه | الله | دے | اورېدونكے

الله تعالىٰ تاسو ته ډير ښكلے نصيحت كوى. بيشكه الله تعالىٰ هر څه اورى او هر څه

بَصِيرًا ﴿٥٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ

ليدونكے. | اے د ايمان خاوندانو! | حكم منئ د الله | او حكم منئ (د هغه) د رسول

وينى گورى. اے مؤمنانو! د الله تعالىٰ حكم منئ او د رسول حكم منئ،

وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ

او د حاكمانو | له تاسو نه | پس كه چرے | تاسو جګړه وكړئ | په څه خبره

او د خپلو (مسلمانانو) حاكمانو، نو كه ستاسو ترمينځه په څه خبره كښې جګړه راپېښه شي

فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ

نو بيرته وګرځوئ هغه | الله طرف ته | او (د هغه) د رسول (طرف ته) | كه چرے تاسو | ايمان لرئ | په الله

نو الله تعالىٰ او د هغه د رسول طرف ته رجوع وكړئ كه تاسو په رښتيا په الله تعالىٰ او په

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾ أَلَمْ تَرَ ع

او په ورځ | د آخرت | دا | غوره دے | او ډير ښه دے | په اعتبار د انجام سره | آيا تا نه دي كتلى

آخرت يقين لرئ، دا خبره ښه ده او د دے انجام ډير ښائسته دے، آيا تا د هغه

إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ

هغو خلقو ته | چه ګمان كوى هغوى | چه هغوى | ايمان راوړے | په هغه څه چه | نازل شو | ستا طرف ته (قرآن)

خلقو په حالت باندې غور نه دے كړے چه دا دعوىٰ كوى چه هغوى په هغه (كلام) باندې ايمان لرى كوم چه

وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ

او په هغه څه | چه نازل شول | له تا نه وړاندې | هغوى غواړى | چه فيصله يوسى | شيطانانو طرف ته

په تا نازل شو او په هغو باندې هم چه له تا نه وړاندې نازل شول (ليكن) غواړى دا چه خپلے جګړے شيطان ته وړاندې

وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ

حال دا چه هغوى ته حكم شوے | چه منكر شى هغه | او غواړى | شيطان | چه بے لارے كړى هغوى

كړى حال دا دے چه هغوى ته حكم شوے دے چه هغوى ئې نه انكار وكړى او شيطان خو دا غواړى چه هغوى په ډيره لرے

ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ

په ګمراهئ لرے سره | او هركله چه ووئيلے شى | هغوى ته | راشئ تاسو | هغه طرف ته | چه نازل كړل | الله

ګمراهئ كښے وغورزوى. او هركله چه هغوى ته ووئيلے شى چه راشئ هغه څيز طرف ته كوم چه الله تعالىٰ نازل كړے دے

وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ

او دَ رسول طرف ته | نو ته گورے | منافقان | (چه) هغوی ایساریږی | له تا نه

او دَ رسول طرف ته راشئ، نو ته به منافقانو ته وګورے چه هغوی له تا نه لرے لرے

صُدُوْدًا ﴿٦١﴾ فَكَيْفَ إِذَآ أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ بِمَا

ډیر وایساریږی و سره | پس څنګه حال دے | هرکله چه | ورسیږی هغوی ته | څه مصیبت | په سبب د هغه څه

ګرځی، بیا هغه وخت به څنګه حال وی؟ چه دَ خپله لاسه پیرے یو آفت

قَدَّمَتْ أَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ إِنْ أَرَدْنَآ

چه وړاندی لیږلی دی | لاسونو دَ هغوی | بیا راشی هغوی تا ته | چه قسم خوری | په الله | چه نه وه اراده زمونږ

را پیریوزی ، نو تا له راځی او په الله تعالیٰ باندی قسمونه خوری چه زمونږ غرض خو

إِلَّآ إِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ﴿٦٢﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ

سوا دَ نیکئ | او موافقت نه | هم دا هغه خلق دی | پوهیږی الله | په هغه څه چه دَ هغوی په زړونو کی دی

نه وو فقط نیکړه لټول او اتفاق راوستل وو. دَ دی خلقو په زړونو کی چه څه ریښتیا دی الله ته دی ښه معلوم دی

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ فِيْ أَنْفُسِهِمْ

پس مخ واړوه | له هغوی نه | او نصیحت وکړه هغوی ته | او ووایه | هغوی ته | دَ هغوی په زړونو کښی

نو ته دَ هغوی دَ خبرو پروا مه کوه هغوی پو هوه او داسے اثری نصیحتونه ورته کوه، چه په زړونو کښے ئے

قَوْلًا بَلِيْغًا ﴿٦٣﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا لِيُطَاعَ

خبره اثرکوونکے. | او نه دے لیږلے مونږ | هیڅ رسول | مګر | دَ پاره دَ دی چه هغه اطاعت وکړے شی

ځائے نیسی ، او (اے پیغمبره!) مونږ چه هر یو پیغمبر رالیږلے دے نو فقط دَ دَ پاره مو رالیږلے دے چه دَ الله په حکم

بِإِذْنِ اللّٰهِ ۗ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَّلَمُوْٓا أَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ

په حکم دَ الله | او که چرے هغه خلق | هرکله چه هغوی ظلم کړے وو | په خپلو ځانونو | راغلی وے تا ته

دَ هغه خبره ومنلے شی که هغوی داسے کار کړے وے چه کوم وخت ئے په ځانونو زیاتے وکړو نو چه تا له راغلی وے

فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ

بیا بخښنه غوښتے وے هغوی | دَ الله نه | او بخښنه غوښتے وے | هغوی دَ پاره | رسول (هم) | نو خامخا به هغوی موندلے وو | الله

الله نه ئے بخښنه غوښتے وے، او رسول هم ورله معافی غوښتے وے، نو الله تعالیٰ به ئے یقینا

تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿٦٤﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى

توبه قبلوونکے | مهربانه . | پس قسم دے دَ رب ستا | چه ایمان به رانه وړی هغوی | تر دے چه

بخښونکے مهربانه موندلے وے. ستا په رب مې دِ قسم وی چه دا خلق به تر هغې ایمان نه راوړی

يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا

حاکم کړی تا | په هغه معامله کښے | چه واقع شوه | دَ هغوی په مینځ کښے | بیا | هغوی بیا نه مومی

ترڅو چه په خپلو جګړو کښے تا حکم و نه منی ، او بیا چه ته ئے فیصله وکړے نو چه

فِىٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿٦٥﴾

په خپل زړونو کښې | تنګي | له هغه څه نه چه | فیصله وکړې ته | او ومني | هغه په پوره منلو سره

دوئ په خپلو زړونو کښې په هغې فیصله هیڅ تنګسیا نه بیا موي او (هغه) پوره ومني ـــــ ـ

وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا

او که چرې مونږ | لیکلې وے | په هغوی باندې | چه | قتل کړئ | خپل ځانونه | یا ووځئ

او که مونږ دوئ ته دا حکم ورکړے وے چه خپل ځانونه ووژنئ یا د خپلو کورونو نه بهر ووځئ نو

مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ۭ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا

د خپلو کورونو نه | نو نه به وکړې هغوئ دا کار | مګر لږ دو | د هغوی نه | او که چرې هغوی | کړے وے

په دوئ کښې کمو خلقو به په دے حکم عمل کړے وو ، او که چرے دوئ په دغې نصیحت

مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴿٦٦﴾ وَّاِذًا

د کوم چه هغوی ته نصیحت کولے شي | نو ده به | غوره | هغوی له | او زیات مضبوط ساتونکے (ایمان لره) | او هغه وخت

عمل کړے وے ، نو دا به ورله ډیره ښه وه او د ایمان د مضبوطیا سبب به ؤو . او چه دغه

لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٦٧﴾ وَّلَهَدَيْنٰهُمْ

مونږ به ورکول هغوی ته | له خپل طرف نه | ثواب | ډیر لوئے | او خامخا به ښوولے وه مونږ هغوی ته

ئې کړے وے نو مونږ به ورله د خپل طرف نه ډیر لوئے اجر ورکړے وو . او په سمه لار

صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٦٨﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ

لاره | سمه | او څوک چه حکم ومني | د الله | او د رسول | پس هغه خلق به وي

به مو بوتلے ؤو . او څوک چه د الله او د رسول حکمونه مني نو هغوئ به د

مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ

د هغو کسانو سره | چه انعام کړے دے | الله | په هغوی باندې | له پیغمبرانو | او صدیقانو

هغې خلقو سره ملګري وي چه الله پرے نعمتونه ورولي دي چه پیغمبران ، صدیقان

وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴿٦٩﴾ ذٰلِكَ

او شهیدانو | او صالحانو نه | او ډیر ښه دي | دا خلق | په ملګرتیا کښې | دا دے

شهیدان او نیکان دي او دغه خلق ډیر ښه ملګري دي ـ دا فضل

ع ٩ ١١ اَلْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿٧٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

فضل | د الله | او کافي دے | الله | پوهه | اے د ایمان خاوندانو !

دے چه د الله د طرف نه کیږي او د ده په حقیقت پوازے د الله علم بس دے ـ اے مؤمنانو !

خُذُوْا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ﴿٧١﴾

واخلئ | د سلاح خپل | بیا روان شئ | ټولۍ ټولۍ | یا روان شئ | ټول په جمع

په خپل حفاظت او تیاري کښې لګیا وسیږئ بیا چه څنګه تاسو ته د موقع مطابق ښکاري بهر ووځئ یا ټول په یو ځائے ووځئ.

وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ

اوبیشکه | ځنې له تاسو نه | هغه څوک دی | چه وروستو پاتې کیږي | بیا که چیرې | ورسیږي تاسو ته

او (یاد ساتئ) په تاسو کښې به داسې خلق هم وي چه (په داسې موقعو) ضرور به سستي کوي، بیا که چیرې تاسو ته تکلیف ورسیږي

مُّصِيْبَةٌ قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ

څه مصیبت | نو وائي | انعام وکړو | الله | په ما باندې | چه په هغه وخت کښې نه وم زه | هغوی سره

نو دا منافق به وائي چه الله تعالىٰ په ما ډیر احسان وکړو، چه زه د هغو خلقو سره نه

شَهِيْدًا ۝٧٢ وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ

حاضر - | او که چیرې | ورسیږي تاسو ته | فضل | له طرفه د الله نه | نو هغه به ضرور وائي | ګویا چه

وم - او که په تاسو الله تعالىٰ فضل وکړي، نو بیا دائي او داسې ګڼیا دی

لَّمْ تَكُنْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ

نه وه | ستاسو او د هغه ترمینځه | (څه) دوستي | کاش! چه زه | وے

لکه چه ستاسو او د هغوی ترمینځه هېڅ مینه محبت نه وو، اے کاش! که زه هم ورسره ملګے

مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝٧٣ فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

د هغوی سره | چه حاصله کړے مې وې | کامیابي | لویه | پس پکار ده چه جنګ وکړي | د الله په لاره کښې

وے نو غټ کار به مې شوے وو - (دوی ته دې معلومه وي چه) د الله تعالىٰ په لاره کښې هغه کسانو

الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ؕ وَمَنْ يُّقَاتِلْ

هغه خلق | چه خرڅوي | ژوند | د دنیا | په بدل د آخرت کښې | او څوک چه | جنګ کوي

له جنګیدل پکار دي چه د دې دنیا ژوند د آخرت د ژوند په بدل کښې خرڅوي، او څوک چه د الله تعالىٰ

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا

په لاره کښې | د الله | بیا هغه وژلے شي | یا غالب راشي | پس زر دے چه ورته ورکړو مونږ هغه ته | اجر

په لاره کښې وجنګیږي، بیا که ووژلے شي یا غلبه بیا موي نو مونږ به ورله ډیر لوئے اجر

عَظِيْمًا ۝٧٤ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ

لوئے | او څه (عذر) دے تاسو ته پاره | چه تاسو جنګ نه کوي | په لاره کښې | د الله | او

ورکړو - او په تاسو باندې څه شوي دي چه تاسو د الله تعالىٰ په لاره کښې او د هغه

الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ

د کمزورو | سړو | او ښځو | او د ماشومانو (په خاطر) | کوم چه

کمزورو سړو، ښځو او د ماشومانو د خاطره جنګ نه کوئ چه هغوی

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ

وائي | اے زمونږ ربه! | اوباسه مونږه | له دے کلي نه | چه ظالمان دي

فریاد ونه کوي چه اے زمونږه ربه! مونږ د دے کلي (ښکلي) نه وباسه چه خلق ئې ظالم

اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۙۚ وَّاجْعَلْ لَّنَا

دَ دې اوسیدونکي | او جوړ کړه | موږ دپاره | له خپل طرف نه | څوک دوست | او جوړ کړه | موږ دپاره

دي ۔ او دَ خپل طرف نه زموږ څوک مدګار جوړ کړه او دَ خپل طرف نه

مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ

له خپل طرف نه | مددګار | کوم خلق چه | مؤمنان دي | هغوی جنګ کوي | په لاره کښې

څوک زموږ مددګار جوړ کړه ۔ دَ چا چه ایمان نصیب شوے دے هغوی دَ الله په لاره کښې

اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ

دَ الله | او کوم خلق چه | کافران دي | هغوی جنګ کوي | په لاره کښې | دَ شیطان

جنګ کوي، او څوک چه کافران دي ، هغوی دَ شیطان په لاره کښې جنګ کوي

فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ

پس تاسو جنګ وکړئ | دَ دوستانو سره | دَ شیطان | بیشکه | چال | دَ شیطان

نو دَ شیطان دَ ملګرو خلاف جنګ کوئ ، بیشکه دَ شیطان چالونه ډیر

كَانَ ضَعِيْفًا ﴿٧٦﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ ع

کمزوري وي | ایا نه دي کتلي تا | هغه خلقو ته | چه وویلے شو | هغوی ته | چه منع کړئ | خپل لاسونه

کمزوري دي ۔ ایا تا هغو خلقو ته کتلي دي چه ورته وویلے شوي ؤ چه خپل لاسونه (دَ جنګ نه) ونیسئ

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ

او قائم کړئ | مونځ | او ورکړئ | زکوٰة | پس هر کله چه | فرض کړے شو | په هغوی باندې | جهاد

او مونځونه کوئ او زکوٰة ورکوئ ، نو اوس چه هغوی ته دَ جنګ حکم ورکړے شو

اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ

(نو) یو ډله | له هغوی نه | چه ویریږي | له خلقو نه | په شان دَ ویریدلو | دَ الله نه

نو دَ یو ټولي پکښې داحال دے چه دَ خلقو نه داسے ویریږي لکه څنګه چه دَ الله نه ویره کول پکار دي

اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ

یا دَ هغه نه هم زیات ویریدل | او ووئیل | اے زموږه ربه! | ولے فرض کړو تا | په موږ باندې | جهاد

بلکه دَ هغے نه هم زیاته ویره ، او وائي چه اے زموږه ربه! په موږ دې جهاد ولے فرض کړو ؟

لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ؕ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا

ولے مهلت رانه کړو تا موږ ته | لږ مودے پورے | ووایه | چه فائده | دَ دُنیا

ولے دې موږ ته لږ نور مهلت رانه کړو ؟ (اے پیغمبره!) ورته ووایه چه دَ دُنیا فائده

قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۗ وَلَا تُظْلَمُوْنَ

لږه ده | او اٰخرت | بهتر دے | هغه چا دپاره | چه پرهیزګار وي | او نه | به ظلم کولے شي په تاسو

ډیره لږه ده ، او څوک چه دَ الله تعالیٰ نه ویریږي هغه له اٰخرت غوره دے ، او په تاسو به ذرے هم

فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ

ذره هم | کوم ځائے چه هم تاسو يئ | بيا به مومي تاسو | مرګ | او که چرے تاسو يئ

ظلم نه شي کولے. هر ځائے کښے چه تاسو يئ مرګ به در ورسي ، اګر که تاسو په مضبوطو

فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ

په قلاګانو | مضبوطو کښے | او که چرے ورسيږي هغوي ته (څه) نيکي | نو وائي | دا

قلاګانو کښے يئ . او هر کله چه هغوي ته فائده ورسيږي نو وائي چه دا د الله

مِنْ عِندِ اللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ

د الله د طرف نه | او که چرے | ورسيږي هغوي ته (څه) مصيبت | (نو) هغوي وائي | دا

د طرف نه مقرر وه ، او چه نقصان ورته ورسيږي ، نو وائي چه دا ستا د طرف

مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ

ستا له طرف نه دے | ووايه | ټول | له طرفه د الله نه دي | پس څه حال دے | د هغو خلقو

نه دے ، ورته ووايه چه هر څه د الله د طرفه دي ، آخر په دے قوم څه شوی

لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿٧٨﴾ مَّا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ

چه نه دی نزدے هغوی | چه پوهه شي | په خبره | او هغه څه چه | ورسيدل تا ته | له نعمت نه

دی چه په هيڅ خبره نه پوهيږي (اے انسانه) تا ته چه هره فائده رسي نو هغه د

فَمِنَ اللَّهِ ۖ وَمَا أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ

نو هغه د الله د طرفه دی | او هغه څه | چه ورسيدل تا ته | له بدئ نه | نو هغه ستا د نفس له طرفه دی

الله د طرف نه ده ، او کوم تاوان چه در رسي ، نو د خپل عمل د کبله در رسي .

وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾

او ولیږلے مونږ ته | د خلقو د پاره | پيغمبر | او کافي دے | الله | ګواه

او (اے پيغمبره !) ته مونږ ټولو خلقو ته رسول لیږلے يې او په دے خبره باندے د الله ګواهي کافي ده.

مَّن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَا أَرْسَلْنَاكَ

څوک چه حکم مني | د پيغمبر | پس بيشک هغه حکم ومنلو | د الله | او څوک چه | مخ واړوي | نو نه يې لیږلے مونږ ته

چا چه د رسول خبره ومنله نو هغه د الله حکم ونه ومنل ، او څوک چه ترے نه مخ ګرځوي نو ته مونږ په هغوي

عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِندِكَ

په هغوي باندے | نګران | او هغوي وائي | ومو منلو | بيا هر کله چه بهر ووځي | ستا له طرف نه

څه نګران نه يې مقرر کړے ، او (دا خلق په ظاهره خو) وائي چه مونږ منو ، خو چه ستا (د مجلس) نه پاڅي نو بيا يو ډله

بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ۖ وَاللَّهُ

نو د شپے مشوره کوي | يوه ډله | له هغوي نه | خلاف د هغے نه | چه ته فرمائے | او الله

په کښے داسے شته چه د شپے مجلس جوړ کړي او ستا د خبرو خلاف مشورے کوي . او الله تعالى

يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۚ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۚ

لیکی | کوم چه هغوی مشورې کوی | پس مخ واړوه | له هغوی نه | او توکل کوه | په الله باندې

د هغوی ټولې پټې مشورې لیکی، نو د دوئ پرواه مه کوه ، او په الله تعالیٰ باندې توکل ساته

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْاٰنَ ۚ وَلَوْ كَانَ

او بس دے | الله | کافی | پس آیا نهٔ | کوی غور هغوی | په قرآن کښې | او کهٔ چرے داوے

او الله تعالیٰ کافی کارساز دے . آیا دوی قرآن ته فکر نهٔ کوی کهٔ دا کتاب (قرآن)

مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَا

له طرفه د ماسوا د الله نه | نو خامخا به موندلے وو هغوی | په دے کښې | اختلاف | ډیر | او هر کله چه

د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا د طرف نه وے ، نو په دے کښې به خلقو ډیر اختلاف موندلے وو ، او

جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ

راځی هغوی ته | څهٔ خبره | د امن | یا د ویرے | نو هغوی مشهوروی | هغه

دوئ چه د امن یا د ویرے .بو خبر واوری ، نو هغه فورًا په خلقو کښې خور کړی

وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلٰى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ

او کهٔ چرے | رسولے دوی هغه | د رسول | او د حکم والو طرف ته | له خپلو نه | نو معلوم کړے به وو هغه

او کهٔ دوی دا سے خبرونه پیغمبر ته او د خپل (مسلمان) جماعت مشرانو ته سپارلے نو څوک

الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

هغه خلقو چه | تحقیق کولے شی | له هغوی نه | او کهٔ چرے نه وے | فضل د الله | په تاسو باندې

چه د خبرې حقیقت ته رسیدل غواړی هغوی به پرې سم پوهیدل. او کهٔ په تاسو د الله تعالیٰ مهربانی او

وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٣﴾ فَقَاتِلْ

او د هغهٔ رحمت | نو خامخا به پیروی کړې وه تاسو | د شیطان | سوا د لږو خلقو نه | پس ته جهاد وکړه

رحمت نه وے نو (تاسو دومره کمزوری وئ چه) د یو څو تنو نه بغیر نورو ټول به په شیطان پسے روان شوی وئ۔ نو (اے پیغمبره!)

فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ۚ وَحَرِّضِ

په لاره کښې | د الله | نشته ذمه واری په تا | مګر د خپل ځان | او رغبت ورکړه

د الله تعالیٰ په لاره کښې جنګ کوه ، ته د خپل ځان نه بغیر د بل چا ذمه وار نهٔ یې ، او مؤمنان د جنګ

الْمُؤْمِنِينَ ۚ عَسَى اللّٰهُ أَنْ يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ

مؤمنانو ته (د جهاد) | نزدے ده چه | الله | بند کړی | جنګ | د کافرانو

د پاره تیار کړه ، ډیر زر به الله تعالیٰ د کافرانو زور مات کړی او

وَاللّٰهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنْكِيلًا ﴿٨٤﴾ مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً

او الله | ډیر سخت دے | په جنګ کښې | او ډیر سخت دے | په عذاب ورکولو کښې | څوک چه سفارش وکړی | سفارش

د الله تعالیٰ زور د ټولو نه غلبه دے او هغه په سزا ورکولو کښې د هر چا نه زیات سخت دے څوک چه د نیکئ سفارش

حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً

نیک | وی به | هغهٔ له | حِصّه | دَ هغې نه | او څوک چه | سفارش وکړی | سفارش

کوی ، هغه به دَ نیکئ برخه اخلی ، او څوک چه دَ بدئ سفارش

سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ

بد | وی به | هغهٔ له (هم) | حصه | دَ هغې نه | او | دے | الله

کوی ، هغه به دَ بدئ برخه اخلی ، او الله تعالیٰ په هر

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ مُّقِيْتًا ﴿٨٥﴾ وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ

په هر څیز باندې | قادر | او هر کله چه | دعائی درکړے شی تاسو ته | دَ سلام

څیز باندې قدرت لری . او هر کله چه په تاسو سلام واچولے شی نو

فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ

نو دعائی درکړئ | بښه | دَ هغې نه | یا واپس کړه هم هغه کلمه | بیشکه | الله | دے | دَ هر څیز

(اچوونکی ته) دَ هغې نه ښهٔ جواب ورکوئ یا کم نه کم هغے جواب ورکوئ ، یقیناً الله تعالیٰ دَ هرے څیز

حَسِيْبًا ﴿٨٦﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ لَيَجْمَعَنَّكُمْ

حساب کوونکے . | هم الله دے | نشته | بل څوک معبود | سوا | دَ هغهٔ نه | خامخا به جمع کړی تاسو

حساب اخستونکے دے . الله هغه دے چه دَ هغهٔ نه بغیر بل څوک معبود نشته ، تاسو ټول به خامخا دَ قیامت

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۗ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿٨٧﴾

په ورځ | دَ قیامت | نشته دے هیڅ شک | په هغې کښے | او څوک دے | زیات رښتونے | دَ الله نه | په خبره کښے

په ورځ راجمع کوی چه دَ هغې په راتلو کښے هیڅ شک نشته ، دَ الله تعالیٰ نه زیات رښتینے خبره لا دَ بل چا کیدے شی؟

فَمَا لَكُمْ فِی الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ

پس په تاسو څهٔ وشو | چه دَ منافقینو په حقله | دوه ډلے شوئ | او الله | اَپوته کړل هغوی

دا په تاسو څهٔ چل شوے دے چه دَ منافقانو په حقله دوه ډلے شوی یئ حال دا چه هغوئ الله دَ خپل بدعمل په وجه

بِمَا كَسَبُوْا ۗ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ۗ وَمَنْ

په وجه دَ هغوی دَ عملونو | آیا تاسو غواړئ | چه لار ته وښایئ تاسو | هغه چا ته چه | گمراه کړی دی هغوی الله | او چا لره چه

(دَ هغوئ عملونه) اَپوته کړی دی ، آیا تاسو غواړئ چه دا سے خلقو ته لار وښایئ کوم چه الله تعالیٰ گمراه کړی دی ،

يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ

گمراه کړی | الله | نو هیڅ کله به بیا نهٔ مومے ته | هغهٔ دَ پاره | (څه) لار | هغوی خو غواړی | چه تاسو هم کافران شئ

او څوک چه الله تعالیٰ په گمراهئ کښے وغورزوی هغهٔ دَ پاره به ته هیڅ لار بیا نهٔ مومے . هغوئ خو دا غواړی لکه څنگه چه

كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ

لکه څنگه چه | هغوی کافران شول | بیا تاسو شئ | برابر | پس مهٔ نیسئ تاسو | دَ هغوی نه | دوستان

په خپله کافران دی دغسے تاسو هم کافران شئ بیا تول برابر شئ ، نو هیڅوک ترے نه ځان له ملگری کوئ مه

النصف

ع ۱۱
۸

حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ

تر څو چه | هغوی هجرت وکړی | د الله په لاره کښې | بیا که چرے | هغوی مخ واړوولو | نو تیں کړئ هغوی

تر څو چه هغوی د الله تعالیٰ په لاره کښې هجرت و نه کړی. بیا که چرے هغوی (تاسو نه) انکار وکړی نو چه

وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا

او وو وژنئ هغوی | کوم ځائے چه | بیا مومئ تاسو هغوی | او مه جوړوئ تاسو | له هغوی نه | دوست

کوم ځائے په لاس درځی هلته ئې نیسئ او وژنئ ئې او هیچرے ترې نه هیڅوک خپل ځان له

وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍۭ

او نه | مددګار | مګر هغه خلق کوم چه | یو ځائے کیږی | هغو خلقو سره

ملګرے یا مددګار مه جوړوئ. سوا د هغو خلقو نه چه یو داسے قوم سره یو ځائے شی چه تاسو

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ

چه ستاسو او د هغوی په مینځ کښې | معاهده ده | یا هغوی راشی تاسو ته | چه تنګے شوے وی | د هغوی سینے

کښے او په هغوی کښے معاهده وی یا په داسے حالت کښے تاسو له راشی چه په جنګ ستوما

اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ۭ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ

چه جنګ وکړی هغوی تاسو سره | یا جنګ وکړی | د خپل قوم سره | او که | غوښتلے وے الله | نو غالب کړی به ئې وو هغوی

وی، نه تاسو سره جنګ کوی او نه د خپل قوم سره، او که د الله تعالیٰ مرضی وے نو هغوی به ئې

عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا

په تاسو باندې | بیا به هغوی جنګیدلی تاسو سره | بیا که چرے | هغوی پریږدی تاسو | پس جنګ نه کوی تاسو سره | او واغورزوی

په تاسو غالب کړی وے نو جنګونه به ئې درسره کول نو که چرے هغوی تاسو پریږدی او تاسو سره جنګ نه کوی او د صلحے

اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾

تاسو ته | پیغام د صلحے | نو نه ده جوړه کړے | الله | تاسو له | په هغوی باندې | لاره

لاس درته راوړاندې کړی نو بیا الله تعالیٰ تاسو له د هغے په مقابله کښے د جنګیدو هیڅ حق نه دے درکړے۔

سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا

زر دے چه بیا به مومئ تاسو | (ځینې) نور خلق | کوم چه غواړی | چه په امن شی هغوی له تاسو | او په امن شی

یو بل قسم منافقان به هم بیا مومئ چه (جنګ نه خوښوی) دا غواړی چه ستاسو له اړخ نه هم په امن وی

قَوْمَهُمْ ۭ كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ فَاِنْ

له خپل قوم نه | هر کله چه | راګرځولے شی هغوی | فساد طرف ته | نو اړولے غورزولے شی هغوی په هغے کښے | بیا که چرے

او د خپل قوم د طرفه هم په امن وی، خو هر کله چه د شر موقع بیا مومی نو په هغے کښے ورداننګی، نو که دا سے خلق

لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ

د ځانه نه شی هغوی تاسو نه | او (نه) هغوی پیش کړی تاسو ته | صلح | او (نه) هغوی منع کړی | خپل لاسونه

ستاسو د مقابلے نه څنګ ته نه شول او صلح ئې درته وړاندې نه کړه، او لاسونه ئې ونه نیول

فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ۖ وَاُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا

نو هغوی ونیسئ | او وژنئ | کوم ځائے چه | بیا مومئ هغوی | او هم دا کسان | جوړ کړو مونږ

نو کوم ځائے چه بیا مومئ هلته ئے رانیسئ او وژنئ ئے ، هم په دغه خلقو پانډې مونږ تاسو له

لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿٩١﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ

تاسو له | په هغوی پانډې | قوت | ښکاره | او نه دی مناسب | یو مسلمان له | چه ووژنی

ډلاس او چتولو ښکاره اختیار درکړے دے ۔ او دَ یو مسلمان دا کار نه دے چه یل مسلمان د

مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ

یو مسلمان | لیکن | په خطا | او څوک چه | ووژنی | یو مسلمان | له غلطئ نه | نو آزاد دې کړی

ووژنی مګر په غلطئ سره ، او چا چه یو مؤمن مسلمان په غلطئ سره مړ کړو نو کفاره ئے دا ده چه

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا

څټ | دَ مسلمان غلام | او خون بها | دې ادا کړی | دَ هغه وارثانو ته | مګر | دا چه معاف ئے کړی هغوی

یو مؤمن غلام دې آزاد کړی او دَ مړی وارثانو ته دې خون بها ورکړی ، مګر که هغوی خون بها وبخښی

فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ

پس که چرته | وی هغه | دَ هغه قوم نه | چه ستاسو دښمن وی | او هغه مسلمان وی | نو آزاد دې کړی | څټ

(نو روا دی) او که چرته هغه مؤمن بنده دَ داسے قوم نه وو چه ستاسو سره دښمنی وه ، نو یو مسلمان غلام دې آزاد

مُّؤْمِنَةٍ ۗ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ

دَ مسلمان غلام ، | او که چرته | وی هغه | له داسے قوم نه | چه ستاسو او هغوی ترمینځه | معاهده وی | نو هم خون بها دې

کړی ۔ او که دَ داسے قوم بنده وُ چه ستاسو ورسره معاهده وه نو دَ هغه وارثانو

مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ

ادا کړی | دَ هغه وارثانو ته | او آزاد دې کړی | څټ | دَ مسلمان غلام | پس څوک چه غلام پیدا نه کړی

ته دې خون بها هم ورکړی او یو مسلمان غلام دې هم آزاد کړی ، او څوک چه غلام مونده نه لے

فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۡ تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ

نو روژه دې ونیسی | دوه میاشتے | پرله پسے | دا توبه ده | له طرفه دَ الله نه | او الله دے

نه شی ، نو پرله پسے دوه میاشتے روژے دې ونیسی ، په طور دَ توبے چه دَ الله دَ طرف نه مقرر ده ۔ او الله په

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٩٢﴾ وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ

پوهه | خاوند دَ حکمت ، | او څوک چه | ووژنی | یو مسلمان | قصدًا | نو دَ هغه سزا ده

هرڅه پوهه او دَ حکمت خاوند دے ۔ او څوک چه یو مؤمن قصدًا مړ کړی ، نو دَ هغه سزا

جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَ

دوزخ | همیشه به وی | په هغه کښې | او غضب وشو | دَ الله | په هغه پانډې | او لعنت ئے کړو په هغه | او

دوزخ دے چه همیشه به پکښې پروت وی او دَ الله تعالیٰ قهر او لعنت به پرے وریږی او

أَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ

تیار کړی دی | هغه له | عذاب | لوئ ۔ | اے مؤمنانو ! | هر کله چه | سفر کوئ تاسو

داسے (قاتل) له الله ډیره لویه سزا مقرر کړے ده ۔ اے مؤمنانو ! تاسو چه د الله په لاره کښے (د جهاد د

فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ

د الله په لاره کښے | نو تحقیق کوئ | او مه | وایئ | هغه چانه چه | اچولے ئے وي | تاسو ته

پاره) لاړ شئ نو (د هرے خبرے) ښه تحقیق کوئ ، او څوک چه در باندې سلام واچوی نو هغه ته دا مه

السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

سلام | چه نه یئے ته | مؤمن | تاسو غواړئ | سامان | د ژوند د دنیا

وایه چه ته مؤمن نه یئے ، (که) تاسو د دنیا مال اسباب غواړئ نو د الله تعالیٰ

فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ كَذَٰلِكَ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ

پس الله سره دی | غنیمتونه | ډیر ، | هم دغه شان | وئ تاسو | وړاندې له دے نه | پس احسان وکړو | الله

سره ډیر غنیمتونه پراته دی ، وړاندې خو تاسو هم داسے (د اسلام نه ناواقف) وئ بیا په

عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٩٤﴾

په تاسو باندې | پس تحقیق وکړئ | بیشکه | الله | دے | په هغه څه چه | تاسو ئے کوئ | خبردار

تاسو باندې الله احسان وکړو ، نو تاسو ښه تحقیق کوئ ۔ الله تعالیٰ یقیناً ستاسو د عملونو نه باخبره دے ۔

لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ

نه دی برابر | کښیناستونکی | له مسلمانانو نه | کوم چه څه عذر نشته

هغه مؤمنان کوم چه (جسماني لحاظ سره) معذوره نه وی او په کور کښے ناست وی د هغه مؤمنانو برابر کیدے نه شی

وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فَضَّلَ

او جهاد کوونکی | د الله په لاره کښے | په خپلو مالونو سره | او په خپلو ځانونو سره | فضیلت ورکړے دے

کوم چه په سر و مال سره د الله تعالیٰ په لاره کښے جهاد کوونکی دی ۔ الله تعالیٰ په

اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ

الله | جهاد کوونکو ته | په خپلو مالونو سره | او په خپلو ځانونو سره | په کښیناستونکو باندې

سر و مال سره جهاد کوونکوله په کور کښے د ناستو خلقو په نسبت ډیره غټه درجه

دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ

په درجه کښے | او هر یو سره | وعده کړے ده الله | د نیکئ | او فضیلت ورکړے دے الله | جهاد کوونکو ته

ورکړے ده اګرکه د هر یو سره ئے د جنت وعده کړے ده ، خو الله تعالیٰ مجاهدینو ته په ناستو خلقو

عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجَاتٍ مِنْهُ وَمَغْفِرَةً

په کښیناستونکو باندې | په اجر | لوئے کښے | درجے دی | د هغه له طرفه | او بخښنه

باندې د ډیر لوئے اجر په ذریعه فضیلت ورکړے دے ۔ هغوی د پاره د الله د طرف نه لوئے لوئے مرتبے دی ، بخښنه

ع ١٣ ٥ ١٠

وَّرَحۡمَةً ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿٩٦﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ

اورحمت | او دے | الله | .بخښونکے | مهربان | بیشکه | هغه خلق

ده او رحمت دے او الله تعالیٰ .بخښونکے مهربان دے . هغه خلقو کوم چه هجرت و نه کړو

تَوَفّٰىهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ

د کوم روح چه قبض کوی | فرښتے | (په داسے حال کښے) چه هغوی ظلم کولو | په خپلو ځانونو باندې

په خپلو ځانونو ظلم کولو فرښتے د هغوی د روح قبض کولو په وخت د هغوی نه تپوس کوی چه تاسو په

قَالُوۡا فِيۡمَ كُنۡتُمۡ ؕ قَالُوۡا كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِيۡنَ

نو وائی (هغوی ته فرښتے) | تاسو په کوم حال کښے وئ؟ | هغوی ووئیل | مونږ وو | کمزوری

څهٔ حال کښے وئ ؟ هغوی جواب ورکړو چه مونږ په دُنیا کښے بے وسه او کمزوری

فِى الۡاَرۡضِ ؕ قَالُوۡۤا اَلَمۡ تَكُنۡ اَرۡضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوۡا

په زمکه کښے | دوئیل هغوی | ایا نهٔ وه | زمکه | د الله | فراخه | چه تاسو هجرت کړے وے

وُو ، فرښتو ورته ووئیل چه ایا د الله تعالیٰ زمکه وسیع او فراخه نهٔ وه چه تاسو پکښے هجرت کړے

فِيۡهَا ؕ فَاُولٰٓئِكَ مَاۡوٰٮهُمۡ جَهَنَّمُ ؕ وَسَآءَتۡ مَصِيۡرًا ﴿٩٧﴾

په هغے کښے | پس هم داخلق دی | د کوم ځائے چه | دوزخ دے | او دا بد ځائے دے | د واپس کیدو

وے ، داهغه خلق دی چه دوزخ ئے ټیکاونړه ده ، او (دوزخ) ډیره خرابه ټیکاونړه ده .

اِلَّا الۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالۡوِلۡدَانِ لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ

مګر | هغه کمزوری | سړی | او ښځے | او ماشومان | چه نهٔ شی کولے

البته کوم سړی ، زنانه او ماشومان چه (په ربښتیا) کمزوری دی او (د بهرتلو) هیڅ ذریعه

حِيۡلَةً وَّلَا يَهۡتَدُوۡنَ سَبِيۡلًا ﴿٩٨﴾ فَاُولٰٓئِكَ عَسَى

(څهٔ) حیله | او نهٔ بیا موهی هغوی | (څهٔ) لار | پس هم دا ے خلقو ته | اُمید دے

نهٔ لری او لار نهٔ موهی ، نو اُمید دے چه الله تعالیٰ

اللّٰهُ اَنۡ يَّعۡفُوَ عَنۡهُمۡ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوۡرًا ﴿٩٩﴾ وَمَنۡ

چه الله | به معاف کړی | هغوی | او دے | الله | معاف کوونکے | .بخښونکے | او څوک چه

هغو خلقو ته معاف وُکړی ، او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے مهربان دے . او څوک چه

يُّهَاجِرۡ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ يَجِدۡ فِى الۡاَرۡضِ مُرٰغَمًا كَثِيۡرًا

هجرت وُکړی | د الله په لاره کښے | بیا به موهی هغه | په زمکه کښے | د او سیدو ځائے | ډیر

د الله تعالیٰ په لاره کښے هجرت وُکړی ، هغوی به په زمکه باندې د استوګنے ډیر ځایونه او هر قسم

وَّسَعَةً ؕ وَمَنۡ يَّخۡرُجۡ مِنۡۢ بَيۡتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ

او فراخی | او څوک چه بهر ته وُځی | له خپل کور نه | هجرت کوونکے | الله او د هغهٔ د رسول طرف ته

فراخی بیا موهی ، او څوک چه د خپل کور نه د الله او د رسول په لار کښے د هجرت په نیت بهر وُوځی

ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا
بیا راشی هغه له | مرګ | نو بیشکه | ثابت شو | د هغه اجر | په الله | او دے | الله | بخښونکے
او په لاره کښې ورله مرګ راشی نو د هغه اجر په الله تعالیٰ باندې ثابت شو او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے

رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾ وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِى الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ
مهربان | او هر کله چه تاسو سفر کوئ | په زمکه کښې | نو نشته دے | په تاسو باندې | ګناه
مهربان دے او کله چه تاسو په سفر روان شئ نو په تاسو باندې څه ګناه نشته که

اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ
چه کم کړئ (په مونځ کښې قصر وکړئ) | له مونځ نه | که چرے ویریږئ تاسو | چه | تاسو به پریشانه کړی
په مونځ کښې قصر کوئ ، که دا اندیښنه درسره وی چه کافران

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾
کافران | بیشکه | کافران (خو) | دی ستاسو | دښمنان ښکاره
به مو پریشانه کړی ، یقیناً کافران ستاسو ښکاره دښمنان دی ۔

وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ
او کله چه | یې ته | په هغوی کښې | او قائم کړے | هغوی د پاره | مونځ | نو پکار دی چه ودریږی
او (اے پیغمبره!) هر کله چه ته د مسلمانانو په ټولی کښې موجود یې او (د جنګ په وخت کښې) ورته مونځ ورکوے نو د دوی

طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَّعَكَ وَلْيَاْخُذُوْۤا اَسْلِحَتَهُمْ ۫ فَاِذَا سَجَدُوْا
یوه ډله | له هغوی نه | تاسره | او پکار دی چه هغوی واخلی | خپله وسله | بیا هر کله چه هغوی سجدې وکړی
یو ټولے دې تاسره ودریږی ، او خپله وسله دې اخستې (تیاره) لری . نو هر کله چه سجدې وکړی

فَلْيَكُوْنُوْا مِنْ وَّرَآئِكُمْ ۪ وَلْتَاْتِ طَآئِفَةٌ اُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوْا
نو هغوی دې شی | وروستو ستاسو | او را دې شی | ډله | دویمه | کوم چه لا مونځ نه دے کړے
نو وروستو دې لاړ شی . او بل ټولے چه مونځ ئے لا نه وی کړے هغه دې را وړاندې شی

فَلْيُصَلُّوْا مَعَكَ وَلْيَاْخُذُوْا حِذْرَهُمْ وَاَسْلِحَتَهُمْ ۚ وَدَّ
بیا دې هغوی مونځ وکړی | تاسره | او را دې واخلی | سامان د ساتنے خپل | او خپله وسله | غواړی
او تاسره دې په مونځ کښې شریک شی ، او د خپل حفاظت خیال دې ولری او وسلے دې تیارے ساتی ، کافران

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَاَمْتِعَتِكُمْ
هغه خلق چه | کافران دی | کاش! چه تاسو غافل شئ | د خپلے وسلے | او د خپل سامان نه
خو هم دا غواړی چه تاسو د خپلو وسلو او د (جنګ د) سامان نه غافله شئ ،

فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ
چه حمله وکړی هغوی | په تاسو باندې | حمله | په یو ځل | او نشته دے ګناه | په تاسو باندې | که چرے وی
او هغوی ناڅاپه په تاسو باندې حمله وکړی . او په دے خبره کښې په تاسو باندې څه ګناه نشته چه تاسو

بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ اَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَنْ تَضَعُوْٓا اَسْلِحَتَكُمْ ۚ

تاسو ته | څه تکلیف | له باران نه | یا یئ تاسو | ناروغه | چه کیږدئ | خپلې وسلې

په داسې حالت کښې خپلې وسلې کیږدئ چه تاسو ته د باران په وجه څه تکلیف وی یا تاسو بیمار یئ

وَخُذُوْا حِذْرَكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا

او را واخلئ | د خپلې ساتنې سامان | بیشکه | الله | تیار کړے دے | کافرانو د پاره | عذاب

خو (په هر حال کښې) د خپل حفاظت خیال ساتئ، بیشکه الله تعالیٰ کافرانو له سپکوونکے عذاب مقرر

مُّهِيْنًا ۝۱۰۲ فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا

رسوا کوونکے . | بیا هر کله چه | ادا کړئ تاسو | مونځ | نو یاد کړئ | الله | په ولاړه | او په ناسته

کړے دے، بیا چه د مونځ نه فارغ شئ نو په ولاړه په ناسته او په ملاسته په هر حال

وَّعَلٰي جُنُوْبِكُمْ ۚ فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ اِنَّ

او په | د ډډو خپلو | بیا هر کله چه | تاسو ته اطمینان وشی | نو د دروئ | مونځ | بیشکه

کښې الله تعالیٰ یادوئ او کله چه تاسو (د دشمن نه) بے غمه شئ نو (پوره) مونځ ادا کوئ. بیشکه

الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَي الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ۝۱۰۳ وَلَا تَهِنُوْا

مونځ | دے | په مسلمانانو | فرض | مقرر (وختونو کښې) | او سستی مه کوئ

مونځ په مؤمنانو باندې په مقرره وختونو کښې فرض کړے شوے دے، او د (دشمن) قوم په لټولو

فِي ابْتِغَاۗءِ الْقَوْمِ ۭ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ

په لټولو د قوم (د کافرانو) کښې | که چرے دردمند کیږئ تاسو | نو هغوی هم | دردمند کیږی

کښې سستی مه کوئ، که تاسو (په جنګ کښې) درد رسی، نو ستاسو په شان هغوی ته هم

كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ

لکه څنګه چه | تاسو دردمند کیږئ | او تاسو امید لرئ | د الله نه | چه هغوی نه لری | او دے | الله

درد رسی ، او تاسو د الله تعالیٰ نه داسے اجر امید لرئ چه هغوی نه لری ، او الله تعالیٰ ښه

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝۱۰۴ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ

پوهه | خاوند د حکمت | بیشکه مونږ نازل کړو | تا ته | کتاب | په حق سره

پوهه او د حکمت خاوند دے. مونږ دا کتاب تا ته په حقه رالیږلے دے ، چه

ع ۱۵ ۱۲

لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ۭ وَلَا تَكُنْ

چه ته فیصله وکړے | د خلقو مینځ کښې | په هغه څه سره | چه ښودلی تا ته الله | او ته مه کیږه

الله تعالیٰ تا ته څه ښودلی دی، د هغې مطابق ته به خلقو کښې فیصله وکړے او د خیانت کرو

لِّلْخَاۗىِٕنِيْنَ خَصِيْمًا ۝۱۰۵ وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

د پاره د خیانت کوونکو | جګړه کوونکے | او بخښنه غواړه د الله نه | بیشکه | الله | دے

ملګر تیا مه کوه ، او د الله تعالیٰ نه بخښنه غواړه ، بیشکه الله تعالیٰ

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۱۰۶ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ

بخښونکے | مهربان | او ته جګړه مه کوه | د هغو خلقو د طرف نه | چه خیانت کوی

بخښونکے مهربان دے. او څوک چه د خپلو ځانونو سره (هم) خیانت کوی ته د هغوی د طرف نه جګړه

اَنْفُسَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ۱۰۷

خپلو ځانونو سره | بیشکه | الله | نه خوښوی | هغه څوک چه وی | خیانت کوونکے | ګناهګار

مه کوه، بیشکه خیانت ګر ګناهګار کسان د الله تعالیٰ خوښ نه وی.

يَّسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ

هغوی پټوی | له خلقو نه | او نه پټوی | له الله نه | او هغه د هغوی سره دے

دا خلق (خپل ګناهونه) د خلقو نه خو پټولے شی خو د الله تعالیٰ نه ئے پټولے نه شی، الله تعالیٰ خو هغه

اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ

هر کله چه هغوی د شپے مشورې کوی | د هغه خبرې | د کوم نه چه (الله) راضی نه دے | او | دے | الله

وخت هم ورسره وی چه دوی د شپے په پټه د هغه د مرضئ خلاف مشورې کوی او الله تعالیٰ د دوی

بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ۱۰۸ هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَاۗءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ

په هغه څه | چه هغوی ئے کوی | احاطه کوونکے | دا اورئ تاسو | هغه خلق یئ | چه جګړه کړې تاسو | د هغوی د طرفه

په ټولو عملونو احاطه کړے دے. ښه! په دے دنیا کښے خو تاسو د دوی د طرف نه جګړه وکړه

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۣ فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

د دنیا په ژوندون کښے | پس څوک به جګړه کوی | الله سره | د هغوی د طرفه | په ورځ د قیامت

نو د قیامت په ورځ به ورله د الله تعالیٰ په مخکښې څوک جګړه کوی، او آخر

اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ۱۰۹ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْۗءًا اَوْ يَظْلِمْ

یا څوک به وی | د هغوی | کارساز؟ | او څوک چه | وکړی | بد کار | یا ؤکړی ظلم

هلته به څوک د دوی وکالت کوی؟ او څوک چه بد کار وکړی یا په خپل ځان

نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۱۱۰ وَمَنْ

په خپل ځان باندې | بیا | هغه بخښنه وغواړی | د الله نه | نو بیا به مومی الله | بخښونکے | مهربان | او څوک چه

زیاتے وکړی بیا د الله تعالیٰ نه بخښنه وغواړی نو الله تعالیٰ به ډیر بخښونکے زیات مهربان بیامومی او څوک

يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰي نَفْسِهٖ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

ؤکړی | ګناه | پس بیشکه چه | کوی ئے هغه | په خپل ځان باندې | او دے | الله | ډیر پوهه

چه ګناه کوی نو هغه هم په خپل ځان ظلم کوی، او الله تعالیٰ په هر څه پوهه د

حَكِيْمًا ۱۱۱ وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْۗــــَٔةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ

د حکمت خاوند | او څوک چه | کوی | خطا | یا (د) ګناه (کار) | بیا تهمت لګوی | د هغې

حکمت خاوند دے، او چا چه خطا کار وکړ یا ئے ګناه وکړه، بیائے د هغې الزام په بے ګناه

بَرِيْٓــًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿١١٢﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ

په بې ګناه باندې | نو بېشکه هغه اوچت کړو په خپل ځان باندې | بهتان | او ګناه | ښکاره | او که چېرته نه وې | فضل

بې ګناه و لګولو نو ډېر لوی بهتان یې ونړاشلو او ښکاره ګناه یې وکړه او (اې پېغمبره!) که په تا د الله تعالی

اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ

د الله | په تا باندې | او د هغه رحمت | نو خامخا اراده کړې وه | یوې ډلې | له هغوی نه | چې ګمراه کړي تا

فضل او مهرباني نه وې نو د دوی یوې ډلې خو دا قصد کړی وو چې (د مجرم په حق کې فیصله کولو کې) تا په غلط لاره ولګوي

وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ

او هغوی نه شي بې لارې کولې | مګر خپل ځانونه | او هغوی نقصان نه شي در رسولی تا ته | هیڅ هم

حال دا چې دوی د خپل ځان نه بغیر بل څوک غلطولې نه شي او تا ته هیڅ قسم له ضرر در رسولې نه شي

وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ

او نازل کړو | الله | په تا باندې | کتاب | او حکمت | او ښودلي يې تا ته | هغه څه چې ستا زده نه وو

او الله تعالی په تا باندې کتاب او حکمت نازل کړې دې او هغه خبرې يې درته ښودلې دي چې تا ته معلومې نه وې

وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿١١٣﴾ لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ

او دے | فضل د الله | په تا باندې | ډېر لوی | نشته دې څه خير | د هغوی په اکثرو مشورو کې

او الله تعالی په تا باندې ډېر لوی فضل کړې دے، د دوی په اکثرو پټو مشورو کې هیڅ خير نه وي

اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ

سوا د هغه نه چې | حکم وکړي | د صدقې | يا د نېک کار | يا د اصلاح | د خلقو په مينځ کې

سوا د هغه چا نه چې پټ په پټه د صدقې ورکولو يا د نېک کار کولو او د خلقو تر مينځه د جوړجاړي راوستلو د پاره مشوره

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا

او څوک چې وکړي | دا کار | د پاره د طلب د رضا د الله | نو زر دے چې | مونږ به ورکړو هغه ته | اجر

وکړي (نو دا ښه خبره ده) او څوک چې د الله تعالی د رضامندۍ د پاره دا کار وکړي نو زر ده چې مونږ به هغه له ډېر

عَظِيْمًا ﴿١١٤﴾ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ

ډېر لوی | او څوک چې مخالفت کوي | د رسول | پس له هغې نه چې | ښکاره شوه | هغه ته

لوی اجر ورکړو ، او څوک چې د هدايت واضح کېدو نه پس هم د پېغمبر په مخالفت کې ملا وتړي او د

الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى

لاره د هدايت | او پېروي وکړي | د څه بلې طريقې | د مسلمانانو د طريقې نه سوا | مونږ به وا ړوو هغه | کوم خوا چې هغه اوړي

مؤمنانو د لارې نه بغير په بله لاره روان شي نو مونږ به هم هغه خوا ته وګرځوو چې په خپله ورګرځېدلې

وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿١١٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ

او مونږ به يې ګوزاروو هغه | دوزخ ته | او بد دے | ځائې د واپس کېدو | بېشکه | الله | نه بخښي

دے او دوزخ ته به يې ارتاو کړو او دوزخ ډېر خراب ټيکاڼه ده . يقين ساتئ چې الله تعالی دا خبره

اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ

داچه شرک وکړے شي | دَدهٔ سره | او بخښي | کوم (ګناه) چه | دَ دے نه سوا ده | هغه چاته چه

نهٔ بخښي چه دَ هغهٔ سره څوک شریک ونیولے شي او دَ دے نه سوا (څهٔ چه) چا ته دُغواړي دُ یه

يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا ﴿١١٦﴾

وغواړي | او څوک چه | شریک ونیسي | الله سره | هغه بے لارے شو | (دَ حق لارے نه) | ډیر لرے .

بخښي او چا چه الله تعالیٰ له شریک جوړ کړو ، نو هغه په ګمراهئ کښے ډیر لرے پریوتلو.

اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا

هغوی نهٔ رابلي | دَ دهٔ (الله) نه سوا | مګر | ښځے (معبودګانے) | او هغوی نهٔ رابلي | مګر | شیطان

هغوی الله پریښے دے او دَ یو څو زنانه څیزونو عبادت کوي ، او صرف دَ هغهٔ نافرمان شیطان

مَّرِيْدًا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا

سرکش | لعنت کړے دے په دهٔ باندے الله | او هغهٔ وویل | زهٔ به ضرور اخلم | ستا له بندګانو نه | (یوه) حصه

عبادت کوي ، په کوم چه الله لعنت کړے دے ، او شیطان وویل چه زهٔ به ستا دَ بندګانو نه ضرور یو مقرر

مَّفْرُوْضًا ﴿١١٨﴾ وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ

مقرر ره . | او زهٔ به خامخا ګمراه کړم هغوی | او خامخا به ئے په باطلو ارزوګانو کښے واچوم | او زهٔ به حکم ورکړم هغوی ته

حصه اخلم ، او هغوی به خامخا بے لارے کوم او هغوی به باطلو ارزوګانو کښے اچوم او زهٔ به هغوی ته تعلیم ورکوم

فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ۚ

نو هغوی به وڅیري | غوږونه | دَ څارویو | او زهٔ به حکم ورکړم هغوی ته | نو هغوی به بدل کړي | پیدا کړے (صورت) دَ الله

چه هغوی (دَ غیر الله په نوم) دَ څارویو غوږونه څیري کړي او هغوی ته به حکم ورکوم چه دَ الله جوړ شوی صورتونو کښے تغیر (ناجائز)

وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ

او څوک چه ونیسي | شیطان | دوست | دَ الله نه سوا | نو هغه نقصان کښے پریوتو

بدلون وکړي ، او څوک چه دَ الله تعالیٰ په ځائے شیطان دوست جوړ کړي ، نو هغه په ښکاره

خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ۭ وَمَا يَعِدُهُمُ

نقصان | ښکاره سره | هغه وعده کوي | هغوی سره | او په ارزو کښے اچوي هغوی | او نهٔ | ورکوي وعده هغوی ته

تاوان کښے پریوتلو . شیطان دَ هغوی سره وعدے کوي او دَ دروغو ارزوګانے ورکوي ، خو شیطان دَ هغوی

الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿١٢٠﴾ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۡ وَلَا يَجِدُوْنَ

شیطان | مګر | دوکه (ورکوي) | هم دا هغه خلق دي | چه ځائے دَ هغوی | دوزخ دے | او نهٔ | به هغوی بیا مومي

سره دَ فریب نه دَ که وعدے کوي ، هم دا خلق دي دَ کوم ټیکاونړه چه دوزخ دے او دَ دے نه به دَ

عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿١٢١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ

دَ هغے نه | خلاصے | او هغه خلق چه | ایمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل | نیک | زر دے چه مونږ به هغوی داخل کړو

خلاصی ځائے بیا نهٔ مومي . او چا چه ایمان راوړے دے او نیک کارونه ئے کړي دي ، هغوی به داسے باغونو

وقف لازم

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ

په باغونو کښې | چه بهيږي | دَ هغې لاندې | نهرونه | هميشه به وي | په هغې کښې | تل | وعده ده دَ الله

کښې داخل کړي ، چه دَ هغې لاندې به نهرونه بهيږي او هغوي به هغې کښې تل ترله وي ، دا دَ الله تعالىٰ رښتينې

حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾ لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ

رښتينې | او څوک دے | ازيات رښتيا ويونکے | دَ الله نه | په خبره کښې | دا نه | ستاسو په ارزوګانو (اوانېو) دے

وعده ده . او دَ الله تعالىٰ نه زياته رښتينې خبره لا دَ بل چا کيدے شي . نه ستاسو په ارزوګانو کار کيږي

وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ

او نه په ارزوګانو | دَ اهل کتابو | او څوک چه وکړي | کار بد | دَ هغې جزا به ورکړے شي | او نه به بيا موي

او نه دَ اهل کتابو په ارزوګانو (قانونونو) چه چا بد کار وکړو ، دَ هغې سزا به ورکړے شي ، او دَ الله تعالىٰ

لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ

ځان دَ پاره | دَ الله نه سوا | (څوک) دوست | او نه | (څوک) مدد ګار | او څوک | چه کوي

په مقابله کښې به هيڅوک دَ ځان ملګرے او مدد ګار بيا نه مومي . او څوک چه نيک کارونه کوي

مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ

نيک کار | سړے وي | يا ښځه | او هغه مؤمن وي | نو دا خلق به | داخليږي

برابره خبره ده که نارينه وي او که زنانه وي خو چه ايماندار وي ، نو دغه خلق به جنت ته

الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ

په جنت کښې | او ظلم به نه کړے شي په هغوي باندې | ذره هم | او څوک دے | چيرښه | په دين کښې | له هغه نه

ننوځي او پوره قدرے حق تلفي به ئے نه کيږي . او دَ هغه چا نه ښائسته دين به دَ چا وي

اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ

کوم چه تيټ کړو | خپل سر | دَ الله مخکښې | او هغه نيکوکار وي | او پيروي ئے کړې وي دَ | دَ ملت | دَ ابراهيم

چه دَ الله حکم ته سرتيټ کړي ، او په اخلاص نيک کارونه کوي ، او يو مخيزے دَ ابراهيم عليه السلام

حَنِيْفًا ؕ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾ وَلِلّٰهِ مَا

چه يو مخيزے ؤ | او جوړ کړو | الله | ابراهيم | (مخلص) دوست | او دَ الله دي | څه چه

په ملت روان شي ، او الله تعالىٰ ابراهيم عليه السلام خپل دوست جوړ کړے وو ، او هم دَ الله تعالىٰ

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

په آسمانونو کښې دي | او څه چه | په زمکه کښې دي | او دے الله | په هر څيز باندې

دي څه چه په آسمانونو او زمکه کښې دي . او الله تعالىٰ په هر څيز باندې راچاپيره

مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾ وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ

راچاپيره | او تپوس به کوي له تا نه | دَ ښځو په حقله | ته ووايه | الله | حکم درکوي تاسو ته

دے . او خلق تا نه دَ ښځو په حقله تپوس نه کوي ، ورته ووايه چه الله تعالىٰ تاسو ته دَ هغوي

فِيهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِى الْكِتٰبِ فِىْ يَتٰمَى النِّسَآءِ

دهغوی حقله | او څه چه لوستلے شي | په تاسو باندې | په کتاب کښے | (هغه د هغه) يتيمانو جينکو په حقله (دی)

په حقله حکم درکوی او هغه حکونه (وړاندې) (ياد دی) چه د پخوا نه تاسو ته په دے کتاب کښے اؤروله شي د يتيمانو جينکو په حقله چه تاسو

الّٰتِىْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ

چه نه ورکوئ تاسو هغوی ته | هغه څه چه مقرر شوی دی | هغوی د پاره | او تاسو غواړئ | چه نکاح وکړئ هغوی سره

د هغوی حقونه نه ادا کوئ ، او د نکاح رغبت ورسره کوئ ،

وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ

او د کمزورو | ماشومانو (په باره) کښے | او (په دے حقله) چه قائم اوسئ | يتيمانو د پاره | په انصاف باندې

او هغه حکمونه چه د بے وسه ماشومانو په حقله شوی دی او دا خبره چه د يتيمانو کاروبار په انصاف سره کوئ

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿١٢٧﴾ وَاِنِ امْرَاَةٌ

او څه چه | تاسو کوئ | د نيکئ نه | نو بيشکه | الله | دے | په هغې باندې | ښه پوهه | او که چرے | يوه ښځه

او هره نيکي چه تاسو کوئ ، نو هغه الله تعالی ته ډيره ښه معلومه ده ۔ او که يوه ښځه سره

خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ

ډيره وی | له خپل خاوند نه | د سختئ | يا د مخ اړولو | نو نشته دے څه ګناه | په هغو دواړو

د خاوند د بد سلوکئ يا د بے پروايئ اندېښنه وی نو په دواړو باندې څه ګناه نشته

اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ؕ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ؕ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ

چه هغوی روغه وکړی | په خپل مينځ کښے | صلح | او صلح | ښه ده | او حاضر کړے شوی دے | نفسونه

چه (په دے خبره باندې) په خپل مينځ کښے صلح وکړی او صلح ښه خبره ده ، او شومتيا او لالچ خو هر يو نفس کښے

الشُّحَّ ؕ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

شومتيا ته | او که چرے | تاسو ښه کاروکوئ | او پرهيزګاري کوئ | نو بيشکه | الله | دے | په هغه څه | چه تاسو کوئ

موجود دے ، او که تاسو خلقو سره ښه سلوک کوئ او د الله نه ويريږئ نو الله تعالی ستاسو د کارونو نه بے خبره نه

خَبِيْرًا ﴿١٢٨﴾ وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ

خبردار | او هيڅ کله | په ستاسو طاقت ونه شي | چه عدل وکړئ | د ښځو په مينځ کښے | اګر که تاسو حرص هم وکړئ

دے ۔ او د ښځو ترمينځه پوره پوره انصاف کول ستاسو د وس خبره هرګز نه ده ، اګر که تاسو ډير وغواړئ

فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ؕ وَاِنْ

پس مه کږيږئ | په پوره کږيدو سره | چه تاسو پريږدئ هغه | په شان د زوړند شوے شوے | او که چرے

نو (دومره قدر بس ده چه) يوے ښځے ته دومره مه مائل کيږئ چه بله په شان د اوېزان پريږدئ ، او که

تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٢٩﴾

تاسو اصلاح وکړئ | او پرهيزګاري وکړئ | نو بيشکه | الله | دے | بخښونکے | مهربانه

تاسو ښه سلوک ساتئ او د الله تعالی نه ويريږئ ، نو الله تعالی بخښونکے مهربانه دے ۔

وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ وَكَانَ

او که چیرې هغه دواړه جدا شي | نو بې پروا به کړي الله | هر یو | له خپلې فراخئ نه | او دے

او که (ښځه خاوند) دواړه د یو بل نه جدا شي نو الله تعالیٰ به د خپل فضل سره دواړه بې پروا کړي

اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿١٣٠﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا

الله | د فراخئ خاوند | د حکمت خاوند | او د الله دي | څه چه په | اسمانونو کښې دي | او څه چه

او الله تعالیٰ فراخي راوستونکے د حکمتونو خاوند دے. او هر څه چه په اسمانونو او په زمکه کښې دي ټول د

فِى الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ

په زمکه کښې دي | او بیشکه | مونږ حکم ورکړے وو | هغه خلقو ته | چه ورکړې شوې وو ورته | کتاب | له تا نه وړاندې

الله تعالیٰ دي. او تا سو نه وړاندې چه چا ته کتاب ورکړې شوے وو، مونږ هغوئ ته هم هدایت کړے وو او

وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا

او تاسو ته | چه | ویرېږئ | د الله نه | او که چیرې | تاسو انکار کوئ | نو بیشکه د الله دي | څه چه

تاسو ته هم هدایت کوو چه د الله تعالیٰ نه ویره کوئ، او که تاسو نه منئ نو (مه ئې منئ) هر څه چه په اسمانونو

فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿١٣١﴾

په اسمانونو کښې دي | او څه چه | په زمکه کښې دي | او دے | الله | بې نیازه | ستائيلے شوے

او په زمکه کښې دي ټول د الله تعالیٰ دي، او الله تعالیٰ غني دے د هر تعریف لائق دے.

وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

او د الله دي | څه چه په اسمانونو کښې | او څه چه په زمکه کښې دي | او کافي دے | الله

او د اسمانونو او د زمکے هر څه د الله تعالیٰ دي، او الله تعالیٰ یوازے کارساز

وَكِيْلًا ﴿١٣٢﴾ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ؕ

کارساز | که چیرې هغه وغواړي | نو لرې به کړي تاسو | اے خلقو! | او رابه ولي | نور خلق

بس دے. که الله تعالیٰ وغواړي نو اے خلقو! تاسو به فنا کړي، او نور خلق به راولي

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿١٣٣﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا

او دے | الله | په دې (خبره) باندې | قادر | څوک چه وي غوښتونکے | د ثواب | د دنیا

او الله تعالیٰ په هر کار باندې قدرت لري. څوک چه صرف د دنیا اجر غواړي نو (هغه) ته

١٩ ع ٨ ١٦ فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا ۢ بَصِيْرًا ﴿١٣٤﴾

نو الله سره دے | ثواب | د دنیا | او د اخرت | او دے الله | اوریدونکے | لیدونکے

(د معلومه وي چه) الله تعالیٰ سره د دنیا او اخرت دواړو ثواب شته، الله تعالیٰ هر څه اوري هر څه ويني.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ

اے د ایمان خاوندانو! | شئ تاسو | قائم | په انصاف | گواه جوړ شئ | الله د پاره

اے مؤمنانو! په انصاف قائم اوسېږئ او د الله تعالیٰ د پاره گواهي کوئ

وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا

او اګر که (هغه ګواهي) خلاف (ستاسو) د ځانونو وي | یا د پلار او مور | او د خپلوانو | که چېرې | هغه وي | دولتمند

اګر که (دا ګواهي) د خپلو ځانونو، یا د مور پلار، یا د خپلوانو برخلاف وي که هغه مالدار وي

اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۫ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ

یا فقیر | نو الله | ډېر حقدار دی په هغوی باندې | پس پیروي مه کوئ | د (خپل) خواهش | چه تاسو وا نه وړئ له عدل کولو نه

یا غریب وي په هر حال کښې الله تعالیٰ تاسو نه زیات د هغوی خیرخواه دی نو د خپل نفس په پیروي کښې د عدل نه لاس

وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۳۵﴾

او که چېرې | تاسو غلط بیاني وکړئ | یا مخ واړوئ | نو بېشکه | الله | دی | په هغه | چه کوئ یې تاسو | ښه واقف

وانه خلئ او که چېرې تاسو ژبه واړوئ یا (د ګواهۍ نه) شا ته شئ نو الله تعالیٰ ستاسو د کارونو نه ښه خبر دی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ

اې د ایمان خاوندانو! | ایمان راوړئ | په الله | او د هغه په رسول | او په هغه کتاب | کوم چه

اې مؤمنانو! الله تعالیٰ او د هغه په رسول او د هغه په کتاب باندې کوم چه هغه په

نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ۚ وَمَنْ

هغه نازل کړو | په خپل رسول باندې | او په هغه کتاب | کوم چه نازل یې کړو | له دې نه وړاندې | او څوک چه

خپل رسول باندې نازل کړو او په هغه کتاب باندې کوم چه هغه د دې نه وړاندې نازل کړې و څوک

يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

انکار وکړي | د الله | او د هغه د فرښتو | او د هغه د کتابونو | او د هغه د رسولانو | او د ورځ د اخرت

چه د الله تعالیٰ د هغه د فرښتو، د هغه د کتابونو د هغه د رسولانو او د ورځ د قیامت نه انکار وکړي

فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا ﴿۱۳۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ

نو بېشکه | هغه ګمراه شو | په ګمراهۍ لرې سره | بېشکه | کوم خلق چه | ایمان راوړو | بیا یې انکار وکړو | بیا

بېشکه هغه (د حق لارې نه) ډېر لرې پرېوتلو. بېشکه هغه خلق کوم چه ایمان راوړو، بیا کافران شول، بیا یې

اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ

یې ایمان راوړو | بیا یې انکار وکړو | بیا | زیات شول | په کفر کښې | هیڅ کله به الله بخښنه ونه کړي هغوی ته

ایمان راوړو بیا کافران شول، بیا په کفر کښې زیات وړاندې لاړل، الله تعالیٰ به هېڅکله هغوی ونه بخښي

وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا ﴿۱۳۷﴾ بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا

او نه به ورښائي هغوی ته | لاره | خبر ورکړه | منافقانو ته | چه هغوی د پاره دی | عذاب

او نه به هغوی ته نېغه لاره ورښائي، منافقانو ته زېرې ورکړه چه هغوی له دردناک عذاب مقرر

اَلِيْمًا ﴿۱۳۸﴾ الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

دردناک | هغه خلق کوم چه | جوړوي | کافرانو لره | دوستان | سوا | د مسلمانانو نه

دی. هغه منافقان چه مسلمانان یې پرېښي دي او کافرانو سره یې دوستانې جوړې کړي دي

أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾

آیا هغوی غواړی | دَ هغوی سره | عزت | پس بیشکه | عزت (خو) | هم الله دَپاره دے | ټول

آیا دوئ عزت دَ کافرانو نه غواړی ؟ نو بیشکه هر قسم عزت خو دَ الله تعالیٰ په لاس کښے دے .

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا

او بیشکه هغه نازل کړی دی | په تاسو باندې | په کتاب کښے | دا چه کله | واورئ تاسو | چه دَ ایتونو دَ الله | انکار کولے شی

او تاسو ته په کتاب (قرآن) کښے دا حکم راغلے دے . چه کوم ځائے دا واورئ چه دَ الله تعالیٰ دَ ایتونو نه انکار کیږی

وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا

او ټوقے کولے شی | دَ هغے سره | پس مه | کښینئ تاسو | دَ هغوی سره | تر دے چه | هغوی مشغول شی

او خندا ګانے ورپورے کیږی . نو هغوی سره مه کښینئ ترڅو چه هغوی په بله

فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ

په خبره | بله خبره کښے | ګنی تاسو به (هم) | دغه وخت دَ هغوی په شان شئ | بیشکه | الله | یو ځائے کوونکے دے

خبره کښے مشغول نه شی ، ګنی تاسو دا سے وکړل نو دَ هغوی په شان به شئ ، یقین وکړئ چه الله تعالیٰ به

الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾ الَّذِينَ

منافقانو | او کافرانو لره | په دوزخ کښے | په جمع سره | هغه منافقان

منافقان او کافران په دوزخ کښے دا یو ځائے کړی دوئ ستاسو په

يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللَّهِ قَالُوا

چه انتظار کوی | ستاسو | که چرے | تاسو ته حاصله وی | فتح | دَ الله دَ طرف نه | (نو) وائی

حقله دَ حالاتو انتظار کوی . نو که الله تعالیٰ تاسو ته کټه درکړی ، نو ډېر وائی چه ولے

أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا

آیا نه وُو مونږ | تاسو سره | او که چرے | وی | کافرانو دَ پاره | څه حصه یا فائده | نو وائی

مونږ تاسو سره ملګری نه وُو او که کافرانو ته څه حصه ملاؤ شی ، نو دوئ به (کافرانو ته

أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۚ فَاللَّهُ

آیا نه وُو غالب شوی مونږ | په تاسو باندې | او مونږ نه وُئ بچ کړی تاسو | دَ مسلمانانو نه | پس هم الله به

وائی چه) آیا مونږ په تاسو غالب کیدو نکی نه وُو ؟ خو سره دَ دے مونږ تاسو دَ مسلمانانو نه بچ کړئ . پس الله تعالیٰ

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ

فیصله وکړی | ستاسو په مینځ کښے | په ورځ دَ قیامت | او هیڅ کله به ورنه کړی | الله | کافرانو ته

به دَ قیامت په ورځ ستاسو تر مینځه فیصله وکړی ، او هیچرے به الله تعالیٰ دَ مسلمانانو په مقابله کښے

عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ

په مسلمانانو باندې | (دَ غلبے) لار | بیشکه | منافقان | دوکه ورکوی | الله ته | او هغه (الله)

کافرانو له غلبه ورنه کړی - منافقان (په خپل خیال کښے) الله تعالیٰ ته دوکه ورکوی حال دا دے چه الله

ع ٢٠ / ١٧

خَادِعُهُمْ ۚ وَإِذَا قَامُوٓا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوا كُسَالٰى ۙ

کتګه ورکوونکې دی هغوی ته | او هر کله چه | هغوی ودریږي | مونځ د پاره | نو ودریږي | په سستۍ سره

دوئ په دوکه کښې غورزولي دي او کوم وخت چه مونځ ته ودریږي نو په زړه ماتي ودریږي او خلقو

يُرَآءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللّٰهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ مُّذَبْذَبِينَ

هغوی ښائي (عبادت) | خلقو ته | او نه یادوي هغوی | الله | مګر لږ | هغوی متردد دي

ته ځانونه ښائي ، او الله تعالى ډير کم يادوي ، د کفر او اسلام تر مینځه

بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ إِلٰى هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

په مینځ کښې | نه دے خوا (دی) | او نه | اخوا دی | او څوک چه | بے لارے کړی الله

مذبذب دي ، نه د مسلمانانو طرف ته دي او نه د کافرانو طرف ته دي او څوک چه الله تعالى بے لارے

فَلَنْ تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا

نو ته به هرګز پیا نه موی | هغه له | څه لار | اے د ایمان خاوندانو ! | مه جوړوئ

کړی هغه له به هيڅ کله (سمه لار) پیدا نه موے اے مؤمنانو ! د مسلمانانو نه بغير

الْكٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَنْ تَجْعَلُوا

کافرانو لره | دوستان | سوا | د مؤمنانو | آيا غواړئ تاسو | چه جوړ کړئ

کافرانو سره دوستانے مه نیسئ ـ آیا تاسو دا غواړئ چه د خپل

لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾ إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ

الله د پاره | په خپل ځان باندې | دليل | ښکاره | بيشکه | منافقان به | په ډيره ښکته طبقه کښې وی

ځان برخلاف د الله ښکاره حجت قائم کړئ . يقين ولرئ چه منافقان به د دوزخ په لاندينۍ درجه

مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا

د اور | او ته به هيڅ کله پيا نه موے | هغوی له (څه) مددګار | مګر | کوم خلق چه | توبه وکړی | او اصلاح وکړی

کښې پراته وی او ته به هيڅوک د دوئ مددګار پیا نه موے . البته څوک چه توبه وباسی او خپل کار درست کړی

وَاعْتَصَمُوا بِاللّٰهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلّٰهِ فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ۖ

او مضبوطئ سره ونيسی | الله | او خالص کړی | خپل دين | الله د پاره | نو هم داخلق دی | مسلمانانو سره

او د الله تعالى احکام په مضبوطئ سره ونيسی او خپل دين خالص د الله د پاره کړی نو دا خلق به مؤمنانو سره ملګری وی

وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ

او زر به | ورکړی | الله | مؤمنانو ته | اجر | لوئے | څه به کوی | الله

او ډير زر به الله تعالى مؤمنانو ته لوئے اجر ورکړی ـ الله تعالى څه کوی چه تاسو له

بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾

تاسو ته په عذاب درکولو | که تاسو شکر وکړئ | او ايمان راوړئ | او دے | الله | قدردان | پوهه

به عذاب درکوی که تاسو شکر وباسئ او د ايمان په لار قائم يئ او الله تعالى ډير قدردانه په هرڅه پوهه دے .

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

لَا یُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ

نهٔ خوښوي | الله | په زوره وینا | په بده | خبره | مگر | په چاچه | ظلم وشو

الله تعالیٰ نهٔ خوښوي چه څوک دِ په بده وینا خُله پرانیځي ، مگر په چاچه زیاتے شوے وي

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِیْعًا عَلِیْمًا ﴿۱۴۸﴾ اِنْ تُبْدُوْا خَیْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا

او دے الله | اَورېدونکے | پوهه | کهٔ تاسو ښکاره کوئ | نیکي | یائے پټوئ | یا تاسو معاف کړئ

او الله تعالیٰ هر څهٔ اَوري په هر څهٔ پوهه دے . کهٔ تاسو څرگند نېکي کوئ او کهٔ پټ یا کهٔ (دَ خلقو) بدي

عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِیْرًا ﴿۱۴۹﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ یَكْفُرُوْنَ

بدي | نو بیشکه | الله | دے | معاف کوونکے دَ قدرت خاوند | بیشکه | هغه خلق کوم چه | انکار کوي

معاف کوئ ، نو الله تعالیٰ معاف کوونکے دے په هر څهٔ قدرت لري . یقیناً کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ

بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَیُرِیْدُوْنَ اَنْ یُّفَرِّقُوْا بَیْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ

دَ الله | او دَ هغهٔ دَ رسول | او دوي غواړي | چه جدائي وکړي | په مینځ | دَ الله | او دَ هغهٔ دَ رسولانو

دَ رسولانو انکار کوي او غواړي چه دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسولانو تر مینځه جدائي راولي

وَیَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَّیُرِیْدُوْنَ

او وائي | مونږ ایمان راوړو | په ځنو باندې | او انکار کوو | دَ ځنو | او دوي غواړي

او وائي چه مونږ ځنے منو او ځنے نهٔ منو ، او دا غواړي چه دَ

اَنْ یَّتَّخِذُوْا بَیْنَ ذٰلِكَ سَبِیْلًا ﴿۱۵۰﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا

چه ونیسي | دَ دے په مینځ کښے | لاره | هم دا خلق دي | کافران | اصلي

کفر او ایمان تر مینځه (بله) لاره راوباسي . هم دغه خلق پاخهٔ کافران دي

وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِیْنَ عَذَابًا مُّهِیْنًا ﴿۱۵۱﴾ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ

او مونږ تیار کړے دے | کافرانو دَ پاره | عذاب | رُسوا کوونکے | او کوم خلق چه ایمان راوړي | په الله

او مونږ کافرانو له سپکوونکے عذاب تیار کړے دے او څوک چه په الله تعالیٰ او دَ هغهٔ په پیغمبرانو

وَرُسُلِهٖ وَلَمْ یُفَرِّقُوْا بَیْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ

او دَ هغهٔ په رسولانو | او جدائي نهٔ کړه | یو هم | له دوي نه | هم دا دي هغه خلق | چه ژر به

ایمان راوړي ، او دَ هغوئي په مینځ کښے فرق نهٔ راولي ، هغوئي ته به الله تعالیٰ خپلے

یُؤْتِیْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ﴿۱۵۲﴾ یَسْـَٔلُكَ

ورکړي دوي ته | دَ دوي اجر | او دے | الله | بخښونکے | مهربان | سوال کوي له تا نه

بدلے (پوره پوره) ورکړي ، او الله تعالیٰ بخښونکے مهربانه دے ، دا اهل کتاب (تا)

اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَیْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ سَاَلُوْا

اهل کتاب | چه ته نازل کړه | په دوي باندې | کتاب | له اسمان نه | پس سوال کړے وو دوي

تا نه دا مطالبه کوي چه ته په دوي باندې دَ اسمان نه یو کتاب راکوز کړه ، نو دوي دَ موسیٰ نه دَ

مُوسَىٰٓ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓا۟ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ

له موسیٰ نه | دَ دې نه هم زیات | پس ووئیل دوی (چه) وُښایه موږ ته الله | په ښکاره | بیا ونیول دوی

دَ دې نه هم غټه مطالبه کړې وه، ورته ئې وئیلي وو چه موږ ته الله په ښکاره وُښایه، نو دَ دې سرکشئ

ٱلصَّـٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا

تندر | دَ دوی دَ ظلم په وجه | بیا وُنیولو دوی | سخې (معبود) | پس له دې نه چه

په وجه پرې تندر راپریوتلو بیا دوئ دَ سخي عبادت (هم) وکړو دَ دې نه پس هم چه دوی ته

جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ۚ وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ

راغلې وُو دوی ته | (واضحه) دلیلونه | بیا معاف کړل موږ | دا هم | او ورکړه موږ | موسیٰ ته

څرګندې نخښې راغلې وې، نو موږ ورته دا جرم هم وُبخښلو، او موږ موسیٰ ته ښکاره

سُلْطَـٰنًا مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَـٰقِهِمْ

غلبه | ښکاره | او اوچت کړو موږ | دَ پاسه دَ دوی | کُوهِ طُور | دوی نه دَ اقرار اخستو دَ

غلبه ورکړه - او موږ دَ دوی نه دَ وعدې اخستو دَ پاره دَ دوئ دَ پاسه کوهِ طور پورته کړو

وَقُلْنَا لَهُمُ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا۟

او وئیل موږ | دوی ته | چه داخل شئ | په دروازه کښې | په سجده کولو | او وئیل موږ | دوی ته | دَ حکمه تیری مه کوئ

او حکم مو ورکړو چه (د ښار) دروازې ته (په عاجزئ سره) دَ سجدې په حالت کښې ننوځئ او دا حکم مو ورکړو چه دَ سبت

فِى ٱلسَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَـٰقًا غَلِيظًا ﴿١٥٤﴾ فَبِمَا

په ورځ دَ خالي کښې | او واخسته موږ | دَ دوی نه | وعده | مضبوطه | پس په دې دَ (چه)

په ورځ دَ حد نه تجاوز مه کوئ، او دَ دوئ نه مو ښه پخه وعده واخستله، آخر دَ دوئ دَ

نَقْضِهِم مِّيثَـٰقَهُمْ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ

مانه کړه دوی | وعده خپله | او په وجه دَ انکار دَ دوی | د الله دَ آیتونو | او په وجه دَ وژلو دَ دوی | پیغمبران

په لوظ ماتولو په وجه، او دَ الله تعالیٰ دَ آیتونو نه دَ انکار کولو په وجه، او بنا حقه دَ پیغمبرانو وژلو په

بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا

په ناحقه | او په وجه دَ وینا دَ دوی | چه زړونه زموږ | په پرده کښې دي | بلکه | مهر لګولے دے | الله | په دوی باندې

وجه او دَ دې وینا په وجه چه زموږ زړونه په غلافونو کښې نغښتي دي، (نا) بلکه دَ دوئ دَ کفر په وجه پرې الله مهر

بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥٥﴾ وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ

دَ دوی دَ کفر په وجه | پس دوی ایمان نه راوړي | مګر | لږ | او په وجه دَ کفر دَ دوی | او دَ وینا دَ دوی

وُلګولو. نو دَ یو څو کسانو نه سوا باقي خلقو ایمان رانه وړلو - او بیا دوئ په کفر کښې دې باندې لاهم او په

عَلَىٰ مَرْيَمَ بُهْتَـٰنًا عَظِيمًا ﴿١٥٦﴾ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا

په مریمؑ باندې | دَ بهتان | لوئے | او په وجه دَ وئیلو دَ دوی | چه بیشکه موږ قتل کړو

(بي بي) مریم ئې لوئے بهتان وُلګولو او پخپله ئې ووئیل چه موږ مسیح دَ مریم ځوئے

الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ

مسیح | عیسیٰ | خوئے | دَ مریم | رسول | دَ الله | او نهٔ دی وژلے دوی هغه

عیسیٰ چه دَ الله تعالیٰ رسول دے وژلے دے ، حال دا چه نهٔ ئے وژلے وو او

وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ

او نهٔ په دار کړے دے دوی هغه | لیکن | مشتبه شول | په دوی باندې | او یقیناً | کومو خلقو چه | اختلاف وکړو | دَ دهٔ په حقله

نهٔ ئے په سولئ کړے وو بلکه په شک کښې پریوتی وو او کومو خلقو چه په دے حقله اختلاف وکړو

لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ

خامخا په شک کښې دی | دَ دهٔ په نسبت | نشته دے دوی ته | دَ هغې | څهٔ علم | سوا | دَ پیروئ | دَ ګمان

هغوی یقیناً په شک کښې وو دَ دوی په اصل معامله هیڅ علم نشته ، ګش په ګمان پسے روان دی

وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ

او دوی نهٔ دے قتل کړے هغه | یقیناً | بلکه اُوچت کړے دے هغه | الله | خپل طرف ته | او دے | الله

او دوی عیسیٰ یقیناً وژلے نهٔ دے ، بلکه الله تعالیٰ ځان ته راخیژولے دے او الله تعالیٰ په هرڅه

عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾ وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ

زبردست | دَ حکمت خاوند | او نشته (څوک) | دَ اهل کتابو نه | مګر | خامخا به ایمان راوړی

غالب دانا دے ۔ او په اهل کتابو کښې به هیڅوک پاتے نهٔ شی ، مګر د هغهٔ دَ مرګ نه وړاندې

بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾

په دهٔ باندې | دَ هغهٔ دَ مرګ نه وړاندې | او په ورځ دَ قیامت | هغه به وی | په دوی باندې | ګواه

به پرے ایمان راوړی ، او دَ قیامت په ورځ به پرے هغه ګواهی ورکوی ۔

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ

پس په وجه دَ ظلم | له هغو خلقو نه | چه یهودیان دی | مونږ حرام کړی دی | په دوی باندې | (ډیرې) پاکیزه څیزونه

بیا دَ یهودیانو دَ ظلم په وجه مونږ په دوی باندې ډیر پاک څیزونه هم حرام کړل چه (وړاندې)

أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا ﴿١٦٠﴾

چه حلال وو | دَ دوی دَ پاره | او په وجه دَ منع کولو دَ دوی | دَ الله دَ لارے نه | ډیر خلق

دَ دوی دَ پاره حلال وو ، او په دے وجه هم چه دوی په ډیر خلق دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه منع کول

وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ

او په وجه دَ اخستلو دَ دوی | سود | او حال دا وو چه دوی منع کړے شوی وو | له هغې نه | او خوړل به ئے | مالونه | دَ خلقو

او په دے وجه چه دوی سود اخلی ، سره دَ دے چه دوی دَ سود اخستلو نه منع کړی شوی وُو او په دے وجه چه دَ خلقو

بِالْبَاطِلِ ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦١﴾

په ناحقه | او تیار کړے دے مونږ | کافرانو دَ پاره | له دوی نه | عذاب | دردناک

مالونه ئے ناحقه خوړل او مونږ په دوی کښې دَ کافرانو دَ پاره دردناک عذاب تیار کړے دے

لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِی الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ یُؤْمِنُوْنَ

لیکن | (چه) پاخهٔ (دی) | په علم کښه | دَ دوی نه | او مسلمانان | (دوی خو) ایمان راوړی

مګر په دوی کښې چه څوک په علم کښې پاخهٔ شوی دی او ایماندار دی هغوی داکتاب هم مني چه تاته

بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْكَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَ الْمُقِیْمِیْنَ

په هغه چه نازل شو | په تا | او په هغه څه چه نازل شول | له تا نه وړاندې | او قائم ساتي

رالیږلے شوے او هغه (کتابونه) هم مني چه تا نه وړاندې رالیږلی شوی دی ، او مونځونه

الصَّلٰوةَ وَ الْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْیَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

مونځ | او ورکوی | زکوٰة | او ایمان لری | په الله | او په ورځ دَ اخرت

کوی ، او زکوٰة ورکوی ، او په الله تعالیٰ او په اخرت باندې یقین لری

اُولٰٓىِٕكَ سَنُؤْتِیْهِمْ اَجْرًا عَظِیْمًا ۠(۱۶۲) اِنَّاۤ اَوْحَیْنَاۤ اِلَیْكَ ع ۲۲

هم داخلق دی | زر به ورکړو مونږ دوی ته | اجر | ډیر لوے | بیشکه مونږ | وحی وکړه | تاته

داهغه خلق دی کوم ته به چه مونږ ډیر زر ډیر لوئے اجر ورکړو ۔ (اے پیغمبره!) مونږ تاته هغسے وحی

كَمَاۤ اَوْحَیْنَاۤ اِلٰى نُوْحٍ وَّ النَّبِیّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ وَ

لکه څنګه چه | مونږ وحی کړے وه | نوح ته | او نورو پیغمبرانو ته | پس له دے نه | او

رالیږلے ده لکه چه نوح علیه السلام ته او دَ هغهٔ نه پس نورو پیغمبرانو ته مو رالیږلے وه ، او

اَوْحَیْنَاۤ اِلٰۤى اِبْرٰهِیْمَ وَ اِسْمٰعِیْلَ وَ اِسْحٰقَ وَ یَعْقُوْبَ

مونږ وحی کړے وه | ابراهیم علیه السلام | او اسماعیل علیه السلام | او اسحٰق علیه السلام | او یعقوب علیه السلام

مونږ وحی رالیږلے وه ابراهیم اسماعیل اسحٰق یعقوب (علیهم السلام)

وَ الْاَسْبَاطِ وَ عِیْسٰى وَ اَیُّوْبَ وَ یُوْنُسَ وَ هٰرُوْنَ وَ سُلَیْمٰنَ ۚ

او دَ هغهٔ اولاد | او عیسیٰ | او ایوب | او یونس | او هارون | او سلیمان (علیهم السلام)

او دَ هغهٔ اولاد ته او عیسیٰ ایوب یونس هارون او سلیمان علیهم السلام ته

وَ اٰتَیْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۚ(۱۶۳) وَ رُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَیْكَ

او مونږ ورکړے ؤ | داؤد ته | زبور | او پیغمبران | چه قصے بیان کړی دی مونږ دَ دوی | تاته

او داؤد ته مو زبور (نومے کتاب) ورکړے وو ۔ او ځینو رسولان (مونږ لیږلی دی) دَ کومو ذکر چه مونږ تاته

مِنْ قَبْلُ وَ رُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَیْكَ ؕ وَ كَلَّمَ اللّٰهُ

وړاندې له دے نه | او پیغمبران | چه نهٔ دی بیان کړی مونږ قصے دَ دوی | تاته | او خبرے کړے وے | الله

وړاندې کړے دے او ځینو رسولان داسے دی دَ کومو ذکر چه (لا تر اوسه) مونږ تاته نهٔ دے کړے او الله تعالیٰ دَ

مُوْسٰى تَكْلِیْمًا ۚ(۱۶۴) رُسُلًا مُّبَشِّرِیْنَ وَ مُنْذِرِیْنَ لِئَلَّا یَكُوْنَ

موسیٰ سره | په خبرو کولو سره | (دَ لیږلے مونږ) پیغمبران | زیرے ورکوونکی | او ویروونکی | دَ پاره دَ دے چه نهٔ دی

موسیٰ سره کلام وکړه ، دا ټول پیغمبران (نیکانو ته) زیرے ورکوونکی او (دَ بدانو) ویروونکی رالیږلی شوی وو ، چه دَ

لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ الرُّسُلِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا

خلقو دَپاره | په الله باندې | څه حجت | پس | دَ رسولانو | او دے | الله | ډیر زبردست

پیغمبرانو دَ راتلو نه پس خلقو سره دَ الله تعالیٰ په مقابله کښے هیڅ عذر پاتے نه شي او الله تعالیٰ غالب او دانا

حَكِيْمًا ﴿١٦٥﴾ لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ

خاوند دَ حکمت | لیکن | الله | گواهي ورکوي | دَ هغه څه | چه نازل ئې کړو | ستا طرف ته | په هغه ئې نازل کړے دے

دے . لیکن (که دوی نه مني نو څه وُشو) الله تعالیٰ په دے خبره گواه دے چه تا ته کُه څه (حکمونه) رالیږلی دی

بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿١٦٦﴾

په خپل علم سره | او فرښتے (هم) | گواهي ورکوي | او کافي دے | الله | گواه

هغه ئې خپل کامل علم سره رالیږلی دی او فرښتے هم په دے گواه دی، او یوازے دَ الله تعالیٰ گواه کیدل بس دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا

بیشکه | کومو خلقو چه | انکار ئې وکړو | او منع ئې کړل خلق | دَ الله دَ لارے نه | بیشکه | گمراه شول

بیشکه چا چه انکار کړے دے او دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه خلق منع کوي ، هغوئ دَ سمے لارے نه ډیر

ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿١٦٧﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ

په گمراهئ لرې سره (له حق نه) | بیشکه | کومو چه | انکار ئې وکړو | او ظلم ئې وکړو | نه دے دا چه | الله

لرے پریوتي دی . (دغه شان) چا چه انکار کړے دے او ظلم ئې وکړو الله تعالیٰ به هیڅرے

لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿١٦٨﴾ اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ

به ئې وبخښي | دوی | او نه به ئې ښائي دوی ته | (هیڅ) لار | مگر | لار | (دَ) دوزخ

هغوئ ونه بخښي ، او هغوی ته به هیڅ لار ونه ښائي بغیر دَ دوزخ دَ لارے نه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٦٩﴾

همیشه به وي | په هغې کښے | همیشه | او دے | دا کار | په الله باندې | آسان

چه په کښے به هغوی همیشه وُسیږي ، او دا (سزا ورکول) دَ الله تعالیٰ دَپاره آسان دی .

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ

اے | خلقو ! | راغلے دے تاسو ته | (دا) رسول | په حق سره | ستاسو دَ رب له طرف نه

اے خلقو ! تاسو ته پیغمبر دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه (د) حق (تعلیم) راوړے دے نو یقین پرے

فَاٰمِنُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا

نو ایمان راوړئ | چه غوره دئ | تاسو دَپاره | او که چرے | تاسو انکار وکړو | نو بیشکه دَ الله دی | هغه څه چه

وکړئ ځکه چه په دے کښے موښیګړه ده. او که انکار کوئ ، نو هر څه چه په آسمانونو او په زمکه کښے دی

فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧٠﴾

په آسمانونو کښے | او په زمکه کښے دی. | او دے | الله | پوهه | دَ حکمت خاوند

هغه ټول دَ الله تعالیٰ دی . او الله تعالیٰ په هر څه پوهه او دَ حکمت خاوند دے

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ

اے اهل کتابو! | له حد نه مه تیریږئ | په خپل دین کښے | او مه وایئ | په الله باندے

اے اهل کتابو! په خپل دین کښے د حد نه بهر مه وځئ ، او د الله تعالیٰ نه بغیر د حق خبرے نه بل

إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ

مګر | حق | بیشکه | مسیح | عیسیٰ | ځوئے | د مریم | رسول دے | د الله

نسبت مه کوئ ، حقیقت دا دے چه عیسیٰ د مریم ځوئے سوا د دے نه هیڅ نه وو چه د الله پیغمبر وو

وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ

او د هغه کلام دے | چه دا چولے و هغه | مریم طرف ته | او یو روح دے | د هغه د طرف نه | پس ایمان راوړئ

او د هغه هغه کلمه ده کوم چه هغه مریم طرف ته ولیږله او د الله د طرف نه یو روح وو ، نو په الله تعالیٰ او

بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا

په الله | او د هغه په رسولانو | او مه وایئ | (چه خدایان) درے دی | منع شئ (له دے نه) | (دا) غوره دی

د هغه په رسولانو ایمان راوړئ او دا مه وایئ چه (خدایان) درے دی ، منع شئ هم په دے کښے ستاسو

لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ

تاسو له | بیشکه | الله | معبود دے | یو ازے | پاک دے هغه | (له دے نه) چه | دی | د هغه

بهتری ده ، الله تعالیٰ خو بس یو ازے یو خدائے دے . هغه د دے خبرے نه پاک دے چه څوک د د هغه

وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ

(څه) اولاد | هم د هغه دی | څه چه | په اسمانونو کښے دی | او څه چه په زمکه کښے دی | او کافی دے

ځوئے وی ، په اسمانونو او زمکه کښے چه څه دی ، هم د هغه دی ، او د دے تو لو د ساتلو

بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١ لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ

الله | کارساز | هیڅ کله به شرم نه کوی | مسیح | (له دے نه) چه وی هغه

په حقله الله تعالیٰ یو ازے بس دے ، مسیح (عیسیٰ) هیچرے دا شرم نه ګنړی چه د الله تعالیٰ بنده د

عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ

بنده | د الله | او نه فرښتے | چه مقربے دی | او څوک چه شرم کوی | د هغه له بندګئ نه

در ته دو ګڼلے شی او نه مقربے فرښتے (په دے کښے څه عار ګڼړی) او څوک چه د الله تعالیٰ عبادت شرم ګڼړی

وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ١٧٢ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ

او تکبر کوی | پس هغه به راجمع کړی دوی | خپل ځان ته | ټول | پس هغه | کوم چه | ایمان راوړو

او غرور وکړی نو الله به ټول خلق خپل ځان ته (د قیامت په ورځ) جمع کوی . نو چا چه ایمان راوړے وی او

وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ

او عمل ئے وکړو | نیک | پس پوره به ورکړی دوی ته | د دوی اجر نه | او زیات به ورکړی دوی ته | له خپل فضل نه

نیک کارونه ئے کړی وی ، نو الله تعالیٰ به هغوی ته پوره پوره اجر ورکړی او د خپل فضل نه به زیات هم ورکړی

وقف لازم

وَاَمَّا الَّذِیْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَاسْتَكْبَرُوْا فَیُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِیْمًا ۙ

لیکن | کوموخلقوچه | شرم و کړو | او غرور یې وکړو | پس هغه به عذاب ورکړي دوی | عذاب دردناک

او چا چه (د الله بندګی) عار ګڼلے وی ، او ځان ئې لوئے شمیرلے وی ، نو هغوی له به دردناک عذاب ورکړی

وَّلَا یَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِیًّا وَّلَا نَصِیْرًا ﴿١٧٣﴾

او بیا به نه مومي دوی | ځان د پاره | سوا د الله نه | (څوک) دوست | او نه | (څوک) مددګار

او د الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅوک به خپل ملګرے یا مددګار بیا نه مومی

یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَاۤ

اے خلقو! | راغلے دے تاسو ته | دلیل | له طرفه د رب ستاسو | او مونږ نازل کړو

اے خلقو ! تاسو ته د الله تعالیٰ د طرف نه روښانه دلیل راغلے دے او مونږ صفا لار ښوونکے

اِلَیْكُمْ نُوْرًا مُّبِیْنًا ﴿١٧٤﴾ فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا

تاسو ته | نور | ښکاره | لیکن | کوموخلقوچه | ایمان راوړېدو | په الله | او مضبوط ئې ونیولو

رڼړا مو درلیږلے ده ۔ نو هغه خلق چه په الله تعالیٰ باندې ایمان راوړی او (اسلام ئې) په

بِهٖ فَسَیُدْخِلُهُمْ فِیْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ ۙ وَّیَهْدِیْهِمْ اِلَیْهِ

هغه | پس زر به هغه داخل کړی دوی | په خپل رحمت کښے | او (په) فضل (کښے) | او دوی به ښائی دوی ته | خپل طرفته

مضبوطئ سره ونیولو ، نو الله تعالیٰ به هغوی ډیر زر په خپل فضل او رحمت کښے داخل کړی او هغوی ته به خپل طرف

صِرَاطًا مُّسْتَقِیْمًا ﴿١٧٥﴾ یَسْتَفْتُوْنَكَ ؕ قُلِ اللّٰهُ یُفْتِیْكُمْ

لاره | نیغه | دوی له تا نه د حکم تپوس کوی | ووایه | الله | تاسو ته حکم درکوی

ته رسیدلو د پاره سمه لار ورښائی اے نبی! تا نه خلق (د کلاله په حقله) تپوس کوی ، ورته ووایه چه الله تعالیٰ درته د کلاله

فِی الْكَلٰلَةِ ؕ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَیْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَهٗۤ اُخْتٌ

د کلاله په حقله | که چرے یو کس | مړ شی | چه نه وی د هغه | اولاد | او وی د هغه | یو خور

حکم ښائی ، که چرے څوک مړ شی په د هغه څه اولاد نه وی (او نه ئې پلار ژوندے وی) او د هغه خور وی

فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ یَرِثُهَاۤ اِنْ لَّمْ یَكُنْ

پس د ئے له ده | نیمه | له هغه څه نه چه پریښے ئې ده | او هغه (خپله) | د هغے (خور) به وارث وی | که چرے نه وی

نو مړی چه څه پریښی دی د هغے نیمه به د دے (خور) د پاره وی او (که خور مړه شی) او د هغے اولاد نه وی نو ورور به د

لَّهَا وَلَدٌ ؕ فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَیْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا

د هغے | اولاد | بیا که چرے | هغه خویندے | دوه وی | نو هغوی دواړو له دی | دوه برخے په دریو کښے | له هغه څه نه

هغے د ټول مال وارث وی ۔ بیا که چرے خویندے دوه وی (یا زیاتے وی) نو هغوی به د ټولے ترکے نه په دریو کښے

تَرَكَ ؕ وَاِنْ كَانُوْۤا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ

چه پریښے ئې هغه | او که چرے | وی | (ډیر) خویندے ورونړه | سړی | او ښځے | نو سړی له دی | برابر د | برخے

دوه برخے اخلی ۔ او که څو تنه ورونړه خویندے وارثان وی ، نو د یو سړی برخه د دوو ښځو برابر

الْاُنْثَيَيْنِ ؕ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾

دَ دوؤ ښځو | بيانوي | اللہ | تاسو ته پاره | چه تاسو بې لارې نه شئ | او اللہ | په هر څيز باندې | پوهه دے

دے ، اللہ تعالیٰ تاسو ته خپل حکمونه (حکم) واضحه کوي چه د لارې نه بې لارې نه شئ او اللہ تعالیٰ په هر څه ښه پوهه دے

سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورۃ مائدۃ مدنی ده او په دې کښې ۱۲۰ آیتونه او ۱۶ رکوع گانې دي | شروع کوم په نامه د اللہ چه لوئے مهربان زيات رحم کوونکے دے

شروع کوم د اللہ په نوم چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ؕ اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ

اے د ایمان خاوندانو! | پوره کوئ | وعدے | حلال کړے شوي دي | تاسو ته | چارپایان

اے مؤمنانو ! خپلې وعدے پوره کوئ ، تاسو د پاره څاروي څناور حلال کړے

الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّى الصَّيْدِ

څاروي | سوا د هغو نه چه | اوروله به شي | تاسو ته | مگر حلال مه گڼئ | ښکار

شوي دي (مگر د کوموبیان چه مخکښې را تلونکے دے) خو ښکار ځان له حلال مه گڼئ، هر کله چه د احرام په

وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ ﴿۱﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چه يئ تاسو د احرام په حالت کښې | بيشکه | اللہ | حکم کوي | څه چه غواړي | اے د ایمان خاوندانو!

حالت کښې يئ۔ بيشکه اللہ تعالیٰ چه څه غواړي هغه کوي۔ اے مؤمنانو !

لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا

سپکاوے مه کوئ | د نخښو د اللہ | او نه | د میاشتے | د عزت | او نه | د قربانئ د څارويو | او نه

د اللہ تعالیٰ د نخښو بے حرمتي مه کوئ ، او نه د عزتمنو میاشتو، او نه په حرم کښې د قربانئ څناورو او

الْقَلَآئِدَ وَلَاۤ اٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا

د پټو دار څناورو | او نه | هغو چه تلونکي وي | بيت الحرام (کعبې) ته | هغوي غواړي | فضل

نه د مخکښې د هغو څناورو د کوم سره د پاره چه په غاړه کښې د قربانئ پټې اچولې شي او نه د بیت الحرام د قصد کوونکو کوم چه د خپل رب

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَ

د خپل رب | او رضامندي | او هر کله چه | تاسو احرام پرانیزئ | نو ښکار وکړئ | او

فضل او رضامندي غواړي ، او هر کله چه د احرام د حالت نه بهر ووځئ نو بیا ښکار کولے شئ ،

لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

تیار دې نه کړي تاسو | دښمني | (د يو) قوم | په دې وجه چه دوي منع کړي وو تاسو | د مسجد حرام نه

او (خیال ساتئ) چه يو قوم چه تاسو د مسجد حرام نه منع کړي وئ د هغوي سره دښمني چرته تاسو دې ته تیار نه کړي چه

اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۪

په دې خبره چه تاسو زیاتے وکړئ | او مدد کوئ يو بل سره | په نیکئ کښې | او پرهیزگارئ کښې

زیاتے پرے وکړئ ، او د نیکئ او پرهیزگارئ په کارونو کښې يو بل سره امداد کوئ ، او

ع ۲۴ ۸ | المنزل الثاني ۲ | وقف لازم

وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ

او مه کوئ د یو بل سره | په ګناه | او په ظلم | او وډېرېږئ | د الله نه

د ګناه او د سرکشئ په کارونو کښې هېڅ یو سره تعاون مه کوئ ، او د الله تعالیٰ نه وېره کوئ

إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ

بیشکه الله | سخت عذاب ورکوونکے دے | حرام کړے شوه | په تاسو | مرداره | او وینه

بیشکه الله تعالیٰ په سزا ورکولو کښې ډېر سخت دے. په تاسو باندې حرام کړے شوی دی مرداره او وینه

وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ

او غوښه | د خنزیر | او هغه (ځناور) چې پرې ونیله شوے وی د غیر الله (نوم) | او چې مړ شوې وی په مرۍ خپه کولو سره

او د خنزیر غوښه او هغه چې د الله تعالیٰ نه سوا د بل چا په نوم حلال شوے وی او چې مرۍ ئې خپه شی

وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا

او چې مړ شوې وی په ویشتلو سره | او چې غورځېدلے وی له پاسه | او په وهلو د ښکر | او هغه چې خوړلے وی | درنده | مګر | هغه چې

او چې د ګذار نه مړ شوے وی او چې را وغورځېږی او چې په ډغره خوږ مړ شی او چې درنده ترے نه خوړلے وی بغیر د دے

ذَكَّيْتُمْ ۞ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا

تاسو ذبح کړو | او هغه چې | ذبح کړے شوے وی | (د بتانو) په قربان ګاه باندې | او دا چې | تاسو تقسیم کړئ (غوښه)

نه چې تاسو (ژوندئ موندلو) حلال کړے وی او هغه چې په بت خانو حلال شوے وی او هغه چې د جوارئ په غشو ئې ویش

بِالْأَزْلَامِ ۚ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ۗ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا

د جوارئ په غشو سره | دا تاسو د پاره | سخته ګناه ده | نن | نا امېده شول | کافران خلق

وکړئ . دا ټول د ګناه کارونه دی. نن ورځ کافران ستاسو د دین (بربادولو) نه پوره

مِنْ دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ۚ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ

ستاسو له دین نه | پس مه | وېرېږئ له هغوئ نه | او ووېرېږئ له ما نه | نن ورځ | ما پوره کړو

مایوسه شوی دی نو د هغوئ نه مه وېرېږئ او زما نه وېره کوئ ، نن ما ستاسو دین تاسو

لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ

تاسو د پاره | ستاسو دین | او ما پوره کړو | په تاسو باندې | خپل نعمت | او خوښ م کړو

له کامل کړو ، او خپل نعمتونه م در باندې تمام کړل ، او اسلام م درله

لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ

تاسو له | د اسلام | دین | پس څوک چې | مجبوره شو | د لوږے نه

دین غوره کړو ، نو څوک چې د لوږے نه مجبوره شی

غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٣﴾

چې نه وی مائله | ګناه ته | نو بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے .

(او هغه) ګناه طرف ته مائل نه وی (او حرام خیز وخوری) نو الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے .

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ

دوی پوښتنه کوی له تانه | څه څیز | حلال دے | دوی دپاره | ووایه | حلال دی | تاسو دپاره

(اے نبیؐ!) خلق تانه پوښتنه کوی چه کوم کوم څیزونه تاسو دپاره حلال دی، ورته ووایه چه ټول پاکیزه څیزونه

الطَّيِّبَٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ

پاکیزه څیزونه | او څه چه | تاسو ښودلی دی | ښکاری ځناورو نه | ښکار باندې راچلوونکی | (چه) تاسو ښایئ دوی ته

درله حلال دی، او کوم ښکاری ځناور چه تاسو عادت کړی دی او بیا تاسو ئے په ښکار پسې پریږدئ او دے تعلیم ورته

مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ ۖ فَكُلُوا مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ

له هغه نه | چه ښودلی دی تاسو ته | الله | نو خورئ | له هغه نه کوم چه | دوی ونیسی | تاسو دپاره

درکوئ لکه چه الله تعالیٰ تاسو له درکړے دے. نو کوم ښکار چه دوی تاسو دپاره راونیسی هغه خورئ شئ او د

وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ

او یاد کړئ (د پرېښودو په وخت) | نوم د الله | په هغه باندې | او ویریږئ د الله نه | بیشکه | الله

پرېښودو په وخت) د الله تعالیٰ نوم پرے اخلئ او د الله تعالیٰ نه ویره کوئ. الله تعالیٰ ډیر زر

سَرِيعُ الْحِسَابِ ④ الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَٰتُ ۖ وَطَعَامُ

زر حساب اخستونکے دے | نن ورځ | حلال کړے شوی دی | تاسو دپاره | پاکیزه څیزونه | او خوراک

حساب اخستونکے دے. نن تاسو له ټول پاکیزه څیزونه حلال کړے شول. او د

الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۖ

د هغو خلقو | کوم ته چه ورکړے شوے دے | کتاب | حلال دے | تاسو دپاره | او خوراک ستاسو | حلال دے | هغوی دپاره

اهل کتابو خوراک تاسو دپاره حلال دے او ستاسو خوراک د دوی دپاره حلال دے

وَالْمُحْصَنَٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنَٰتِ وَالْمُحْصَنَٰتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا

او (حلالے دی) پاکدامنے | مسلمانے ښځے | او پاکدامنے ښځے | د هغو خلقو نه | کوم ته چه ورکړے شوے دے

او پاکدامنے مسلمانانے ښځے او د هغو خلقو نه پاکدامنے ښځے کوم ته چه تاسو نه

الْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ

کتاب | له تاسو نه وړاندې | هر کله چه تاسو ورکړئ دوی ته | د دوی مهر | چه نکاح کوونکی یئ

وړاندې کتاب ورکړے شوے دے (تاسو دپاره حلالے دی) هر کله چه تاسو دوی ته د دوی مهر ورکړئ او ستاسو

غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِىٓ أَخْدَانٍ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَٰنِ

نه زنا کوونکی یئ | او نه په پټه آشنایانے نیوونکی یئ | او څوک چه انکار وکړی | د ایمان

اراده د دوی په نکاح کښې د زړه وستلو نه چه د بدکارئ کولو او نه په پټه د آشنایئ. او څوک چه د ایمان (د څخبرو) نه

فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِى الْآخِرَةِ مِنَ الْخَٰسِرِينَ ⑤

نو ضائع شو | د هغه عمل | او هغه به | په آخرت کښې | د نقصان موندونکو نه وی

انکار وکړی نو بیشکه د هغه ټول عملونه ضائع شول او هغه به په آخرت کښې تاوانی شی.

يَآأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ

اے مؤمنانو ! | هرکله چه تاسو ودریږئ | مونځ د پاره | نو ووینځئ | خپل مخونه

اے مسلمانانو ! کوم وخت چه مونځ ته پاځئ ، نو خپل مخونه او ترڅنګلو

وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ

او خپل لاسونه | ترڅنګلو پورے | او مسح کوئ | د خپلو سرونو | او (ووینځئ) خپلے پښے

پورې خپل لاسونه ووینځئ ، او په سرونو مسح کوئ ، او ترګیټو پورے

إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا وَإِنْ كُنْتُمْ

تر ګیټو پورے | او که چرے | یئ تاسو | په حالت د جنابت کښے | نو غسل کوئ | او که چرے یئ تاسو

پښے ووینځئ ، او که په غسل کښے یئ نو خپل ځانونه په ښه شان پاکوئ ، او که ناجوړه

مَرْضٰىٓ أَوْ عَلٰى سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَآئِطِ

مریضان | یا په سفر یئ | یا راشی | یو | له تاسو نه | له ځائے د حاجت نه

یئ یا بیا په سفر یئ یا په تاسو کښے یو تن د اودس ماتی نه راشی ،

أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَآءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا

یا صحبت کړے وی تاسو | د ښځو سره | پس تاسو بیا نه مومئ | اوبه | نو تیمم وکړئ | خاورے

یا د ښځو سره صحبت وکړئ ، او اوبه نه مومئ ، نو د پاکے خاورے نه کار واخلئ

طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِنْهُ مَا يُرِيدُ اللهُ

پاکے سره | بیا مسح وکړئ | د خپلو مخونو | او د خپلو لاسونو | د هغے نه | نه غواړی الله

او په خپلو مخونو او لاسونو باندے د خاورے مسح وکړئ ۔ الله تعالیٰ نه غواړی

لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلٰكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ

چه وکړی | په تاسو باندے | تنګی | لیکن | هغه غواړی | چه تاسو پاک صفا کړی

چه په تاسو تنګسیا راولی ، هغه خو دا غواړی چه تاسو پاک کړی ،

وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ٦ وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ

او چه پوره کړی | خپل نعمت | په تاسو باندے | د پاره د دے چه تاسو | شکرګزار شئ ۔ | او یاد کړئ | احسان

او خپل نعمتونه در باندے تمام کړی چه تاسو د هغه شکر ادا کړئ ۔ او الله تعالیٰ چه کوم نعمتونه

اللهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا

د الله | په خپل ځان باندے | او د هغه وعده | کومه چه | هغه تاسو سره ټینګه کړه | هرکله چه تاسو وویل | چه مونږ واوریدل

درکړی دی هغه یاد ساتئ او کومه پخه وعده چه ئے درنه اخستے ده (هغه مه هیروئ) کوم وخت چه تاسو وویل چه مونږ

وَأَطَعْنَا وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ٧

او مونږ ومنله | او ویریږئ | د الله نه | بیشکه الله | ښه پیژنی | راز | د سینو

واوریدل او ومومنل او د الله تعالیٰ نه ویره کوئ ، الله تعالیٰ د زړونو په پټو خبرو هم ښه واقف دے ۔

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ

اے مؤمنانو ! | قائم وُسېږئ | دَ الله دَپاره | ګواهي ورکوونکي | په انصاف سره

اے مؤمنانو ! دَ الله تعالیٰ دَ پاره په سمه لاره قائم وُسئ ، په انصاف سره

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ۚ ٱعْدِلُوا۟ هُوَ

او تیار دې نه کړي تاسو | دُښمني | دَ یو قوم | په دې | چه تاسو عدل ونه کړئ | عدل کوئ | هغه

ګواهي ادا کوئ او دَ یو ډلے دُښمني دِ تاسو دِ دے ته نه تیاروي چه دَ انصاف نه لاس واخلئ تل انصاف کوئ

أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا

زیات نزدې دے | پرهیزګارئ ته | او وېرېږئ | دَ الله نه بیشکه | الله | ښهٔ واقف دے | دَ هغه څه نه

دا کار پرهیزګارئ ته ډېر نزدې دے ، او دَ الله تعالیٰ نه وېره کوئ ، بیشکه الله تعالیٰ ستاسو دَ ټولو کارونو نه

تَعْمَلُونَ ۝٨ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ۙ

چه تاسو ئے کوئ | وعده وکړه الله | هغو خلقو سره | چه ایمان ئے راوړو | او کار ئے وکړل | نیک

خبر دے ۔ چا چه ایمان راوړے دے او نیک کارونه کوي ، الله تعالیٰ هغوی سره دَ بخښنے

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ۝٩ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟

چه هغوی له | بخښنه ده | او اجر | ډېر لوئے | او کومو خلقو چه | انکار وکړو | او دروغ ئے کړل

او دَ ډېر لوئے اجر ورکولو وعده کړے ده ۔ او چا چه انکار کړے دے او زمونږ آیتونه

بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ۝١٠ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟

زمونږ آیتونه | هم دوی دی | اهل | دَ دوزخ | اے | مؤمنانو

ئے دروغ ګڼلی دی ، هغوی به په دوزخ کښے اوسېږي ۔ اے مؤمنانو

ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓا۟

یاد کړئ | نعمت | دَ الله | په خپل ځان | کله چه اراده وکړه | یو قوم | چه | را اوږد کړي

دَ الله تعالیٰ هغه مهرباني را یاده کړئ چه یو قوم تاسو ته دَ لاس اچولو اراده کړے وه نو

إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ

تاسو ته | خپل لاسونه | نو هغه منع کړل | دَ هغوی لاسونه | له تاسو نه | او وېرېږئ | دَ الله نه

الله تعالیٰ دَ هغوی لاسونه تاسو نه بند کړل ، او دَ الله تعالیٰ نه وېره کوئ

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۝١١ وَلَقَدْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ

او په الله باندې | پکار دي چه توکل وکړي | مؤمنان | او بیشکه اخستے ده | الله | پخه وعده

او مسلمانانو له بس په الله تعالیٰ باندې بهروسه پکار ده ۔ او الله تعالیٰ دَ بني اسرائیلو نه پخه

بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ ٱثْنَىْ عَشَرَ نَقِيبًا ۖ

دَ بني اسرائیلو نه | او مونږ مقرر کړي وو | له هغوی نه | دولس | سرداران

وعده اخستے وه ، او مونږ په دوی کښے دولس سرداران مقرر کړي وو

وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّیْ مَعَكُمْ ؕ لَىِٕنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ

او فرمائیلی دی | الله | چه زهٔ | تاسو سره یم | کهٔ چرے | تاسو قائم کړو | مونځ

او الله تعالیٰ ورته وئیلی دی چه زهٔ ستاسو ملګرے یم کهٔ تاسو مونځونه قائم وساتل او

وَاٰتَیْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَ

او ادا کړو تاسو | زکوٰة | او ایمان راوړو تاسو | زما په رسولانو | او دَ هغوی مدد کړو | او

او زکوٰة مو ادا کړه او زما په پیغمبرانو مو ایمان راوړو ، او دَ هغوی مدد مو کولو او

اَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَیِّاٰتِكُمْ

قرض ورکړو تاسو | الله ته | قرض | ښهٔ | نو زهٔ به ضرور لرے کړم | له تاسو نه | ستاسو ګناهونه

او الله تعالیٰ له مو قرض حسنه ورکولو نو مونږ به یقیناً ستاسو ګناهونه تاسو نه لرے کړو

وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ

او خامخا به داخل کړم تاسو | جنتونو کښے | چه بهیږی به | لاندې دَ هغے نه | نهرونه | بیا چا چه

او یقیناً تاسو به داسے باغونو ته داخل کړو چه دَ هغے لاندې به نهرونه بهیږی ، او څوک چه

كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِیْلِ (١٢)

انکار وکړو | پس له دے نه | له تاسو نه | نو هغهٔ ورکه کړه | نیغه | لاره

پس له دے نه هم کفر وکړی . نو بیشکه هغه دَ سمے لارے نه بے لارے شو .

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّیْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ

پس په وجه دَ ماتولو دَ دوی | خپله پخه وعده | مونږ لعنت وکړو په دوی | او جوړ کړل مونږ | زړونه دَ دوی

پس دَ دوی دَ پخے وعدے دَ ماتولو په وجه مونږ په دوی لعنت وکړو ، او دَ دوی زړونه مو سخت

قٰسِیَةً ۚ یُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَنَسُوْا

سخت | چه دوی بدلوی | کلام | دَ هغے دَ اصل ځایونو نه | او دوی هیر کړه

کړل ، (او سے داحال دے چه) دا خلق کلمے دَ خپل (اصلی) ځائے نه لرے کوی ، او چه کوم نصیحت

حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰی خَآىِٕنَةٍ

لویه برخه | له هغهٔ څهٔ نه | چه نصیحت ورکړے شوے وو دوی ته په هغے سره | او تهٔ به همیشه | خبر داریږے | په څهٔ خیانت بانډې

ورته شوے وو دَ هغے لویه برخه ئے هیره کړے ده ، او تل به درته دَ دوی دَ رنګ رنګ خیانتونو پته لګی مګر

مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ؕ

له دوی نه | سوا | دَ لږو خلقو | له دوی نه | پس معاف کړه | دوی | او مخ وګرځوه

لږ کسان په کښے داسے دی چه (دَ دے عیبهٔ) بچ دی نو دوی معاف کړه او ستر ګے پرے پټے کړه

اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ (١٣) وَمِنَ الَّذِیْنَ قَالُوْٓا اِنَّا

بیشکه | الله | خوښوی | نیکان | او له هغو خلقو نه | چه وائی | مونږه

بیشکه چه نیکان خلق دَ الله تعالیٰ خوښ وی . او هغه خلق کوم چه وائی چه مونږ

نَصٰرٰٓى اَخَذْنَا مِيْثَاقَهُمْ فَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ

نصارى يو | موږ واخستله | د دوی ټینګ کلک وعده | پس هېره کړه دوی | یوه برخه | له هغه څه نه | چه نصیحت شوی وو دوی ته په هغې

نصارى یو موږ د هغوی نه هم وعده اخستې وه نو هغوی هم د هغه نصیحتونو لویه حصه هېره کړه چه هغوی ته شوی وو

فَاَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

نو موږ واچوله | په دوی کښې | دښمني | او کینه | تر ورځې | د قیامت پورې

نو موږ د قیامته پورې د دوی په مینځ کښې دښمني او کینه وغورځوله ،

وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿١٤﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

او زر ده چه خبر به ښائي دوی ته | الله | هغه څه چه | دوی به کول ، | اے اهل کتابو!

او ډیر زر به یې الله تعالیٰ خبر کړي چه دوی به دنیا کښې څه څه کارونه کول ، اے اهل کتابو!

قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا

بیشکه راغے تاسو ته | پیغمبر زموږ | چه بیانوي | تاسو ته | ډیر | له هغه څه نه

یقیناً تاسو ته زموږ رسول راغلے دے ، او د کتاب هغه ډیرے خبرے چه تاسو به پټولے د هغې اکثره

كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ؕ قَدْ جَآءَكُمْ

چه پټول تاسو | له کتاب نه | او عفوه کوي | د ډیرو (خبرو) نه | راغلے دے تاسو ته

برخه هغه تاسو د پاره څرګندوي او د ډیرو خبرو نه درته عفوه هم کوي ، بیشکه تاسو ته

مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ

د الله د طرف نه | نور | او کتاب | واضح | هدایت کوي | په هغې سره | الله | هغه چا ته چه پیروي کوي

د الله تعالیٰ د طرف نه نور او یو واضح کتاب راغلے دے ، د دے په ذریعه الله تعالیٰ هغه خلقو ته د سلامتیٔ

رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ

د هغه د رضا | لارې | د سلامتیٔ | او راوباسي دوی | د تیارو نه | رڼا طرف ته

لارې ښائي کوم چه د هغه رضامندي غواړي او په خپل حکم سره هغوی (د کفر د) تیارو نه (د هدایت)

بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٦﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ

په خپل حکم سره | او هدایت کوي دوی ته | سمے لارے طرف ته | بیشکه | کافر شول | هغه خلق

رڼا ته راوباسي او هغوی ته سمه لار ښائي - یقیناً هغه خلق کافران شول چه

قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ

چه وائي | بیشکه الله | هم دا مسیح ځوئے د مریم دے | ووایه | پس څوک مالک دے

وائي چه الله هم دغه مسیح د مریم ځوئے دے ، ته ورته ووایه چه څوک دلته شته

مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ

د الله مخکښې | د څه شیز | که چرې هغه وغواړي | چه هلاک کړي | مسیح ځوئے د مریم | او د هغه مور

چه د الله مخکښې اختیار ولري که الله تعالیٰ وغواړي چه مسیح ځوئے د مریم او د هغه مور او د زمکے ټول

وَمَنْ فِى الْأَرْضِ جَمِيْعًا ۗ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

او هغه ټول چه په زمکه کښې دي | او هم الله لره ده | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکې

استوګن خلق هلاک کړي ، او د آسمانونو او د زمکې او د دې دواړو ترمینځه د ټولو څیزونو اختیار

وَمَا بَيْنَهُمَا ۗ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾

او څه چه | د دې دواړو په مینځ کښې دي | هغه پیدا کوي | څه چه وغواړي | او الله | په هر څیز باندې | قادر دے .

صرف د الله تعالیٰ دے ، هر څه چه غواړي هغه پیدا کوي او الله تعالیٰ په هر څیز باندې قدرت لرونکے دے

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ۗ قُلْ

او وائي | یهود | او نصارٰی | مونږ (خو) | د الله خاص | او د هغه دوستان یو | ووایه

او یهود او نصارٰی وائي چه مونږ د الله تعالیٰ خاص او زړه ګوټي یو . ورته ووایه چه

فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ۗ بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۗ

بیا ولې | هغه تاسو ته عذاب درکوي | ستاسو په ګناهونو | بلکه | تاسو (هم) | انسانان یئ | د هغه چانه چه | هغه پیدا کړي دي

بیا ولې تاسو ته په ګناهونو باندې سزا ګانې درکوي ؟ بلکه تاسو هم هغسې بنیادم یئ لکه چه الله نور بنیادم پیدا کړي دي

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَلِلّٰهِ مُلْكُ

بخښنه کوي | چا ته چه غواړي | او عذاب ورکوي | چا له چه غواړي | او هم الله د پاره ده | بادشاهي

چا ته چه ئے خوښه وي بخښنه کوي او چا ته چه ئے خوښه وي سزا ورکوي ، او د آسمانونو او د زمکې او د دواړو

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿١٨﴾ يٰٓاَهْلَ

د آسمانونو | او د زمکې | او څه چه د دې دواړو په مینځ کښې دي | او د هغه طرف ته | واپس تلل دي | اے اهلِ

ترمینځه د ټولو څیزونو اختیار والا هم د الله تعالیٰ دے ، او هغه ته واپس تلل دي اے اهلِ

الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى

کتابو ! | بیشکه راغلے دے تاسو ته | زمونږ رسول | بیانوي | تاسو د پاره | هر کله چه

کتابو ! تاسو ته زمونږ پیغمبر راغلے دے چه (د الله حکمونه) تاسو ته صفا صفا بیانوي ، په داسې وخت کښې

فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا

بند شوي وو د پیغمبرانو راتلل | چه تاسو دا ونه وایئ | (چه) نه وو راغلے مونږ ته | څوک زیرے ورکوونکے | او نه

چه د یو موده راسې د پیغمبرانو راتلل موقوف وو چه تاسو دا ونه وایئ چه مونږ ته څوک زیرے راکوونکے (یا د عذاب څخه

نَذِيْرٍ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ۗ وَاللّٰهُ

ویروونکے | پس بیشکه راغلے تاسو ته | زیرے ورکوونکے | او ویروونکے | او الله

ویروونکے نه وو راغلے ، او س بیشکه تاسو ته زیرے ورکوونکے او ویروونکے (پیغمبر) راغلے دے ، او الله تعالیٰ په

عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ ع وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ

په هر څیز باندې | قادر دے | او هغه کله چه ووئیل | موسیٰ | خپل قوم ته | اے زما قومه

هر څه باندې قدرت لري - او هغه وخت را یاد کړئ چه موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته ووئیل چه اے زما قومه !

اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ

یاد کړئ | دَ الله احسان | (چه هغه) په تاسو (وکړو) | هرکله چه هغه پیدا کړل | په تاسو کښې | پیغمبران

الله چه تاسو د کوم نعمتونو درکړی دی هغه را یاد کړئ چه په تاسو کښې ئے پیغمبران را ولیږل دی ، او

وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا

او جوړ ئے کړئ تاسو | بادشاهان | او ورئے کړل تاسو ته | هغه څه | چه نه ئے وو ورکړی | بل چا ته

تاسو ئے بادشاهان کړی یئ ، او تاسو له ئے هغه څه درکړی دی چه په نړۍ مخلوق کښې ئے هیچا له نه

مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ

په ټول جهان کښې | اے زما قومه! | داخل شئ تاسو | زمکے | پاکے ته

دی ورکړی ، اے زما قومه! دے پاکیزه علاقے (شام) ته ورننوځئ چه الله تعالیٰ

الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا

چه لیکلے ده | الله | تاسو د پاره | او مه راګرځئ | خپلو شا ګانو طرف ته | بیا به شئ تاسو

ستاسو په برخه کښې لیکلے ده ، او مخ په شا مه تښتئ ، بیا به نامراده په پاتے

خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا

نقصان مونکی | دوی وویل | اے موسیٰ! | بیشکه | په هغے کښې | قوم دے | زبردست | او مونږ خو

شئ ۔ هغوی وویل چه اے موسیٰ! په دغه ملک کښې یو ډیر جابر قوم اوسیږی او مونږ خو به

لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا

به هیڅ کله داخل نه شو هغه ځائے ته | تر هغے چه | دوی ووځی | له هغے نه | بیا که چرے | دوی به خپله ووځی | له هغے نه | نو مونږ خو

هلته هیڅ کله داخل نه شو تر څو چه هغوی د هغه ځائے نه وتلی نه وی ، هو! که هغوی د هغه ځائے نه ووځی نو بیا مونږ

دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا

به داخل شو | دوه کسه | له هغو خلقو نه | چه (د الله نه) ویریدل | احسان کړے وو الله | په هغو دواړو باندې

ورننوځو ته تیار یو ۔ (په دې باندې) د الله نه ویریدونکو نه دوو سړو وویل ، په کومو چه الله تعالیٰ مهربانی کړے

ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّكُمْ

(چه) تاسو داخل شئ | په دوی باندې | (د ښار) دروازے نه | بیا هر کله چه | تاسو په هغے کښې داخل شئ | پس بیشکه تاسو به

وو، چه (په دوی حمله وکړئ او د ښار په) دروازه کښې داخل شئ ، بیا چه کله په هغے کښې داخل شئ ، نو یقیناً هم تاسو

غٰلِبُوْنَ ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٣﴾

غالب یئ | او خاص په الله باندې | توکل وکړئ تاسو | که چرے یئ تاسو | مؤمنان

به غالب یئ ، او په الله تعالیٰ توکل ساتئ ، که تاسو مؤمنان یئ ۔

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا

دوی وویل | اے موسیٰ! | مونږ خو به | هیڅ کله داخل نه شو په هغے کښې | چرے هم | تر څو چه هغوی په هغے کښې موجود وی

هغوی وویل اے موسیٰ! مونږ به هیڅ کله په دغه ښار کښې قدم نه ږدو تر څو چه هغوی په کښې موجود وی

فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿٢٤﴾

پس لاړ شه | ته | او ستا رب | پس جنګ وکړئ دواړه | بیشکه مونږ به دلته | ناست یو۔

نو بس ته او ستا رب دواړه لاړ شئ او جنګ وکړئ ، مونږ به دلته ناست یو

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِيْ وَاَخِيْ فَافْرُقْ

هغهٔ ووئیل اے زما ربه! | بیشکه زهٔ | څه اختیار نهٔ لرم | مګر | په خپل ځان | او په خپل ورور | پس فیصله وکړه

(په دې بانډې) حضرت موسیٰ علیه السلام ووئیل اے زما ربه! زما په اختیار کښې هیڅوک نشته خو یو زهٔ په خپله یم او بل مې ورور دے

بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ

په مینځ زمونږ | او په مینځ | د فاسقانو خلقو | وفرمائیل پس بیشکه هغه (ملک) | حرام کړے شوے ده | په دوی بانډې

نو ته زمونږ او د دے نافرمانه قوم په مینځ کښې فیصله وکړه۔ الله ورته وفرمائیل ښه ده نو دغه ملک تر څلوېښتو کالو

اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ج يَتِيْهُوْنَ فِي الْاَرْضِ ط فَلَا تَاْسَ

څلوېښت | کاله | سرګردانه به وی دوی | په زمکه کښې | پس ته مهٔ غمژن کیږه

په دوی حرام دے ، په زمکه به سرګردانه ګرځي ، نو ته د دے نافرمانه

عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ ع وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ

په قوم | نافرمانه بانډې | او واوروه | دوی ته | حال | د دوؤ ځامنو د آدم

قوم په حال بانډې افسوس مهٔ کوه او (اے پیغمبره!) خلقو ته د آدم علیه السلام د دواړو ځامنو رښتونے

بِالْحَقِّ م اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ

رښتونے | هرکله چه | دواړو قربانی وکړه | نو قبوله شوه | د یو له هغوی نه | او قبوله نهٔ شوه

واقعه واوروه ، هر کله چه دواړو یو یو قربانی پیش کړه نو په دوی کښې د یو قربانی قبوله کړے شوه او د بل قبوله

مِنَ الْاٰخَرِ ط قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ط قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ

له بل نه | هغهٔ ووئیل | زهٔ به خامخا تا ووژنم | هغهٔ ووئیل | بیشکه چه | قبلوی | الله

نه شوه ۔ (په دې بانډې) دریم ووئیل چه زهٔ به تا ضرور ووژنم ، هغهٔ په جواب کښې ووئیل چه الله تعالیٰ خو بس د

مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾ لَئِنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ

له پرهیزګارانو نه | که چرے | را اوږده کړه تا | ما ته | خپل لاس | چه ته قتل کړے ما

د پرهیزګارانو نه راځے قبلوی ، که ته په ما بانډې د وژلو د پاره لاس اوچت کړے ، نو زهٔ

مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ج اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ

نو زهٔ به در اوږد نهٔ کړم | خپل لاس | تا ته | چه زهٔ ووژنم تا | بیشکه زهٔ | ویریږم | د الله نه

به بیا هم ستا په وژلو پسے خپل لاس اوږد نهٔ کړم ، زهٔ د الله تعالیٰ نه ډیر ویریږم

رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ بِاِثْمِيْ وَاِثْمِكَ

(چه) رب دے | د ټولو جهانونو | بیشکه زهٔ | غواړم | چه هم ته یوسے | زما ګناه | او د خپله ګناه (هم)

چه د ټول مخلوق پروردګار دے ۔ زهٔ غواړم (چه زیاتے زما د طرف نه نهٔ وی بلکه) هم ته زما او خپل ګناه هم ته ټول په

وقف لازم

النصف

ع ٨/٤

فَتَكُونَ مِنْ أَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾

پس چه ته شې | له دوزخیانو نه | او دا ده | سزا | دَ ظالمانو

په خپله ذمه واخلې او دوزخي شې ، او دَ ظالمانو هم دا سزا ده ،

فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهٗ فَأَصْبَحَ

بیا تیار کړو | هغه | دَ هغهٔ نفس | په وژلو دَ خپل ورور | پس ووژلو هغه | او هغه شو

نو خپل نفس دے دَ خپل ورور وژلو ته تیار کړو ، نو هغه ئے ووژلو نو په زیان کارانو کښې

مِنَ الْخٰسِرِينَ ﴿٣٠﴾ فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ

دَ نقصان مونږ ونکو نه | پس راولیږلو | الله | یو کارغهٔ | چه کنستله ئے | زمکه

شامل شو ، بیا الله تعالیٰ یو کارغهٔ راولیږلو ، چه زمکه ئے کنستله

لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِي سَوْءَةَ أَخِيهِ ۚ قَالَ يٰوَيْلَتٰٓى

چه وښائی دَ دهٔ ته | چه څنګه | دے پټ کړی | کالبوت | دَ خپل ورور | دهٔ ووئیل | اے افسوس ماله

چه چل ورته وښائی چه دَ خپل ورور کالبوت به څنګه پټوی (چه داغ وليدل نو) هغهٔ ووئیل اے کاش

أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَأُوَارِيَ سَوْءَةَ

ایا عاجزه شوم زهٔ | له دې نه چه شم زه | په شان | دَ دے | کارغهٔ | پس چه پټ کړم زهٔ | کالبوت

چه زهٔ دَ دے کارغهٔ په شان (هوښیار) وے او دَ خپل ورور دَ کالبوت ښخولو بندوبست م

أَخِي ۚ فَأَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ ۛ

دَ خپل ورور | پس شو هغه | له پښیمانو نه | په دې وجه

کړے وے ، نو هغه په خپلو کړو ډیر پښیمانه شو ، په دے وجه

كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ أَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا

مونږ ولیکل (تورات کښې) | بنی اسرائیلو باندې | چه | څوک | قتل کړی | یو نفس

مونږ بنی اسرائیلو ته دا حکم ورکړے وو ، چه چا یو نفس دَ بل نفس دَ بدلے نه

بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ

بے له عوض دَ نفس نه | یا بے له فساد کولو نه | په زمکه کښې | پس دا داسې لکه چه | ووژل دهٔ

بغیر یا دَ زمکے په مخ دَ فساد کولو نه بغیر ووژلو نو ګویا هغهٔ ټول بنیادم

النَّاسَ جَمِيعًا ۗ وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا ۗ

ټول خلق | او چا چه دَ یو نفس ژوند بچ کړو | نو ګویا | دهٔ ژوندی کړل | ټول خلق

ووژل ، او چا چه دَ یو نفس ژوند بچ کړو نو ګویا هغهٔ دَ ټولو خلقو ژوند بچ کړو

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ

او بیشکه | راغلل دوی ته | پیغمبران زمونږ | په روښانه نخښو سره | بیا | بیشکه | ډیر | له دوی نه

او زمونږ پیغمبرانو دوی ته څرګندے نخښے راوړے ، سره دَ دے بیا هم په دوی کښې ډیر خلق

معانقه | وقف النبي صلى الله عليه وسلم

بَعْدَ ذٰلِكَ فِى الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ﴿٣٢﴾ اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ

پس | له دے نه | په زمکه کښے | له حد نه وتونکی دی | بیشکه | سزا | د هغه خلقو

د زمکے په مخ زیاتے کوی . خوک چه د الله او د هغهٔ د رسول سره

يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَسْعَوْنَ فِى الْاَرْضِ فَسَادًا

کوم چه جنگ کوی | الله | او د هغهٔ رسول سره | او کوشش کوی | په زمکه کښے | د فساد (خورولو)

جنگیږی او د زمکے په مخ د فساد کولو کوشش کوی د هغوی سزا داده چه

اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ يُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ

چه قتل دِکړے شی | یا په سولئ دِکړے شی | یا دِ پریکړے شی | د دوی لاسونه | او د دوی ښپے

دوژلے شی یا په سولئ کړے شی . یا د هغوی لاسونه او ښپے د مخالف طرفونو نه پریکړے

مِّنْ خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْىٌ فِى الدُّنْيَا

له مخالف طرف نه | یا دِ وویستلے شی دوی | له ملک نه | دا | د دوی | ذلت (دی) | په دُنیا کښے

شی ، او یا د وطن نه وشړلے شی ، دا شرمندګی خو د دوی له په دنیا کښے مقرر ده

وَلَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٣٣﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ

او د دوی د پاره | په آخرت کښے | عذاب دے | ډیر لوئے | مګر هغه خلق | چه توبه وکړی | له دے نه وړاندی

او په آخرت کښے ورله ډیر لوئے عذاب تیار دے . البته کوم خلق چه ستاسو په قابو کښے د راتلو

ع ٥ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ ۚ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣٤﴾

چه تاسو قابو پیا مومئ | په هغوی باندِ | پس پوهه شئ | چه | الله | بخښونکے | مهربان دے .

نه وړاندِ توبه وکړی (نو هغوی پریږدئ) ، نو پوهه شئ چه الله تعالیٰ بخښونکے مهربانه دے .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ

اے مؤمنانو ! | دویریږئ | له الله نه | او لټوئ | د هغهٔ طرف ته | وسیله

اے مؤمنانو ! د الله تعالیٰ نه دویریږئ او د هغهٔ په دلپاره کښے د کامیابئ ذریعه ولټوئ

وَجَاهِدُوْا فِىْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او جهاد کوئ | د هغهٔ په لاره کښے | د پاره د دے چه تاسو | کامیاب شئ . | بیشکه | کوم خلق چه | کافران دی

او د هغهٔ په لاره کښے جهاد کوئ چه کامیاب شئ . بیشکه چا چه د کفر لاره غوره

لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ

که چرے | دی دوی سره | هغه څه چه | په زمکه کښے دی | ټول | او هم دومره | د هغے سره (نور هم)

کړے ده که هغوی ته د زمکے ټول دولت په لاس ورشی او د دے هومره نور هم (ورله) ورکړی

لِيَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ

چه هغوی خپله فدیه ورکړی (او خلاص شی) | له عذاب نه | په ورځ د قیامت | نو هم به قبول نه کړے شی | له دوی نه | او د دوی له دپاره

چه د قیامت د عذاب په بدله کښے ئے ورکړی نو د هغوی نه به دا فدیه هیڅ کله قبوله نه شی او دوی

عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿٣٦﴾ يُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمۡ بِخٰرِجِيۡنَ

عذاب | دردناک | دوی به غواړی | چه | راووځی | له دوزخ نه | او نه به وي دوی | وتونکی

له دردناک عذاب تیار دی. دوی به غواړی چه د دوزخ نه ووځی لیکن د هغه ځائے نه به وتلے نه شی

مِنۡهَا ۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ مُّقِيۡمٌ ﴿٣٧﴾ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ

له هغې نه | او دوی له | عذاب دے | همیشه قائم پاتې کیدونکے | او غل سړے | او غله ښځه

او دوی له د همیشه عذاب مقرر دے او غل که سړے وی او که ښځه وی

فَاقۡطَعُوۡۤا اَيۡدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ

پریکړئ | لاسونه د دواړو | په طور د سزا | د دوی د جرم | عبرت | د الله له طرف نه

نو د دواړو نه لاسونه پریکوئ، دا د هغوی د عمل بدله ده او د الله تعالیٰ د طرف نه مقرره سزا ده

وَاللّٰهُ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَنۡ تَابَ مِنۡۢ بَعۡدِ ظُلۡمِهٖ وَاَصۡلَحَ

او الله | زبردست | خاوند د حکمت دے | بیا څوک چه | توبه وکړی | پس له خپل ظلم نه | او عمل ښه کړی

او الله تعالیٰ غالب دے په هر حکمت واقف دے. نو څوک چه د زیاتی کولو نه پس توبه وباسی، او خپل ځان سم

فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوۡبُ عَلَيۡهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿٣٩﴾

نو بیشکه | الله | قبلوی توبه د هغه | بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے

کړی نو الله تعالیٰ د هغه توبه قبلوی، بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے.

اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ يُعَذِّبُ

آیا ته نه پوهیږے | چه هم د الله دے | حکومت | د اسمانونو | او د زمکے | هغه عذاب ورکوی

آیا تا ته معلوم نه ده چه د اسمانونو او د زمکے بادشاهی یوازے د الله تعالیٰ ده چاله چه غواړی

مَنۡ يَّشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿٤٠﴾

چا ته چه غواړی | او هغه بخښنه کوی | چا ته چه غواړی | او الله | په هر څیز باندې | قادر دے.

سزا ورکوی او چاله چه غواړی هغه بخښی، او الله تعالیٰ په هر څه پوره پوره قدرت لری.

يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوۡلُ لَا يَحۡزُنۡكَ الَّذِيۡنَ يُسَارِعُوۡنَ فِى الۡكُفۡرِ

اے پیغمبره! | غمژن دې نه کړی تا | هغه خلق | چه په تیزئ سره (شریک) شی | په کفر کښې

اے پیغمبره! ته دې هیڅکله د هغه خلقو په کارونو غمژن نه شے، چه کفر ته په منډو منډو ورپریوځی

مِنَ الَّذِيۡنَ قَالُوۡۤا اٰمَنَّا بِاَفۡوَاهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِنۡ قُلُوۡبُهُمۡ ۛۚ

له هغو خلقو نه | چه وائی | مونږ ایمان راوړو | په خپلو خولو | او ایمان نه دے راوړے | د هغوی زړونو

دا په هغو (منافقو) خلقو کښې دی چه په خپلو خولو وائی چه مونږ ایمان راوړے دے او د هغوی په زړونو کښې ایمان موجود نه

وَمِنَ الَّذِيۡنَ هَادُوۡا ۛۚ سَمّٰعُوۡنَ لِلۡكَذِبِ سَمّٰعُوۡنَ

او له هغو خلقو نه | چه یهودیان دی | اورېدونکی دی | د دروغ خبرو | اورېدونکی دی

او د هغو خلقو نه چه یهودیان شوی دی، د دوی دا حال دے چه د دروغو سره عادت دی او د هغه نورو خلقو د پاره

لِقَوۡمٍ اٰخَرِيۡنَ ۙ لَمۡ يَاۡتُوۡكَ ؕ يُحَرِّفُوۡنَ الۡكَلِمَ

دَ نورو خلقو دَ پاره | چه نهٔ دی راغلی تا ته | هغوی بدلوی | کلام

چه تا سوله چرے راغلی نهٔ دی جاسوسی هم کوی . دا خلق صحیح خبرے دَ ځائے نه

مِنۡۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوۡلُوۡنَ اِنۡ اُوۡتِيۡتُمۡ هٰذَا فَخُذُوۡهُ وَاِنۡ

پس دَ (دَ ثابت کیدو نو دَ هغے) په ځایونو کښے | هغوی وائی | که درکړے شو تاسو ته | دا (حکم) | نو هغه منئ | او که چرے

بے ځایه کوی . خلقو ته وائی که تاسو ته دا (بدل شوی) حکم درکړے شی (کوم چه مونږ غواړو) نو قبول ئے

لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَاحۡذَرُوۡا ؕ وَمَنۡ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتۡنَتَهٗ فَلَنۡ تَمۡلِكَ لَهٗ

درنهٔ کړے شو تاسو ته دا | نو ځان وساتئ | او چا لره چه | الله په فتنه کښے غورزول غواړی | نو ته هیڅکله نهٔ شے په کولے هغه

کړئ او که درنهٔ کړے شی نو ځان ترے وساتئ . او چا لره چه الله تعالیٰ په فتنه کښے غورزول غواړی نو دَ هغهٔ دَ دَ

مِنَ اللّٰهِ شَيۡـئًا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ لَمۡ يُرِدِ اللّٰهُ اَنۡ يُّطَهِّرَ

دَ الله نه | په هیڅ هم | هم دا دی هغه خلق چه | نهٔ دے اراده کړے الله | چه پاک کړی

هدایت دَ پاره الله سره ستا هیڅ اختیار نشته . دا هغه خلق دی چه الله تعالیٰ هم نهٔ غواړی چه دَ دوی زړونه

قُلُوۡبَهُمۡ ؕ لَهُمۡ فِى الدُّنۡيَا خِزۡىٌ ۖۚ وَّلَهُمۡ فِى الۡاٰخِرَةِ

دَ دوی زړونه | دوی له | په دنیا کښے | رسوائی (ده) | او دوی له | په آخرت کښے

پاک صفا کړی ، دَ دوی دَ پاره په دنیا کښے رسوائی ده ، او په آخرت کښے دوی له لوئے

عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۴۱﴾ سَمّٰعُوۡنَ لِلۡكَذِبِ اَكّٰلُوۡنَ لِلسُّحۡتِ ؕ

عذاب دے | لوئے | اوریدونکی دی | دَ دروغو خبرو | خوړونکی دی | دَ حرامو

عذاب مقرر دے . دا خلق دَ دروغو خورولو په خاطر جاسوسی کوونکی (او) بیشمهٔ حرام خوړونکی دی .

فَاِنۡ جَآءُوۡكَ فَاحۡكُمۡ بَيۡنَهُمۡ اَوۡ اَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ ۚ

پس که چرے | دوی راشی تا ته | نو فیصله وکړه | دَ دوی په مینځ کښے | یا مخ واړوه | له دوی نه

نو که تا له (په مقدمو کښے) راشی نو (که ستا خوښه وی نو) دَ دوی ترمینځهٔ فیصله وکړه کنه انکار ترے نه وکړه

وَاِنۡ تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَنۡ يَّضُرُّوۡكَ شَيۡـئًا ؕ وَاِنۡ حَكَمۡتَ

او که چرے | ته مخ وګرځوے | له دوی نه | نو دوی به هیڅکله ضرر ونه رسوی تا ته | دَ هغه څیز | او که چرے | ته فیصله کوے

او که انکار ترے نه وکړے نو دوی تا ته هیڅ نقصان نهٔ شی دررسولے ، او که فیصله کوے نو دَ دوی

فَاحۡكُمۡ بَيۡنَهُمۡ بِالۡقِسۡطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُقۡسِطِيۡنَ ﴿۴۲﴾

نو فیصله وکړه | په دوی کښے | په انصاف سره | بیشکه | الله خوښوی | انصاف کوونکی

ترمینځهٔ په انصاف سره فیصله کوه ، بیشکه الله تعالیٰ انصاف کوونکی کسان خوښوی .

وَكَيۡفَ يُحَكِّمُوۡنَكَ وَعِنۡدَهُمُ التَّوۡرٰىةُ فِيۡهَا حُكۡمُ

او څنګه به | دوی تا منصف جوړ کړی | او دوی سره | تورات دے | چه په هغے کښے | حکم دے

او دوی به تا څنګه منصف مقرر کړی حال دا دے چه دوی سره تورات موجود دے چه په کښے دَ الله تعالیٰ

ع ٩ ٦ ١٠

اللّٰهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٣﴾

دَ الله | بیا | دوی مخ اړوی | پس له دے نه | او نهٔ دی داخلق | مؤمنان

حکم پیلا ږے ، او بیا دوئ دَ هغے نه مخ هم ګرځوی ، (په حقیقت کښې) داخلق ایمان نهٔ لری .

اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا

بیشکه مونږ نازل کړو | تورات | چه په هغے کښې | هدایت | او رڼا وه . | فیصله کوله | په هغے سره

بیشکه مونږ تورات نازل کړو چه په کښے هدایت او رڼا ده . دَ الله تعالیٰ پیغمبران چه دَ هغهٔ

النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ

پیغمبرانو | کوم چه | فرمانبرداره وو دَ الله | دَ هغو خلقو دپاره چه یهود وو | او دَ دوی بزرګانو | او عالمانو (هم)

فرمانبردار (بندګان) وو ، یهودیانو ته په هٔ دَ دے کتاب مطابق حکمونه ورکول او دغسے بزرګانو او عالمونه هم

بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ

په دے وجه | چه دوی محافظ مقرر کړے شوی وو | دَ الله دَ کتاب | او دوی وو | په هغے باندې | ګواهان

ځکه چه دوی دَ الله تعالیٰ دَ کتاب ذمه وار کړے شوی وو او په خپله په دے خبره ګواهان شوی وو

فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِیْ

پس مهٔ ویریږئ تاسو | دَ خلقو نه | او دو ویریږئ له مانه | او | مهٔ | اخلئ | په بدل زما دَ ایتونو

نو تاسو دَ خلقو نه مهٔ ویریږئ او ما نه ویریږئ او زما ایتونه په لږ قیمت

ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

قیمت | لږ | او څوک چه | فیصله ونهٔ کړی | په هغه څهٔ چه | نازل کړی دی | الله

مهٔ خرڅوئ . او څوک چه دَ الله تعالیٰ دَ نازل شوی کتاب مطابق فیصله ونهٔ کړی

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ

پس دغه خلق | کافران دی | او مونږ فرض کړی ؤ | په دوی باندې | په دَ (تورات) کښې | چه نفس

نو هم دغه خلق کافران دی او مونږ دوئ ته په تورات کښے حکم ورکړے وو چه دَ ځان

بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ

په بدله دَ نفس کښې | او سترګه | په بدله دَ سترګه کښې | او پوزه | په بدله دَ پوزه کښې

بدل ځان ، دَ سترګے بدل سترګه دَ پوزے بدل پوزه ،

وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ؕ

او غوږ | په بدله دَ غوږ کښې | او غاښ | په بدله دَ غاښ کښې | او زخمونه | په قصاص دی

دَ غوږ بدل غوږ ، دَ غاښ بدل غاښ او دَ ټولو زخمونو بدل برابر زخم

فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَمَنْ

پس څوک چه | معاف وکړی | دَ دغے (زخم) | نو هغه | په کفاره وی | دَ هغهٔ (دَ ګناهونو) | او څوک

نو چا چه معاف وکړه نو دا (معافی) به دَ هغهٔ دَ ګناهونو کفاره وګرځی ، او څوک چه

لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٥﴾

چه فیصله ونه کړي | په هغه څه | چه نازل کړي دي | الله | نو هم هغه دي | ظالمان

دَ الله تعالیٰ دَ نازل شوو حکمونو مطابق فیصله ونه کړي نو هم دغه خلق ظالمان دي.

وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا

اولېږلو مونږ په پسې ولېږلو مونږ | دَ دوی په پسې باندې | عیسیٰ | خوئې | دَ مریم | تصدیق کوونکے

بیا مونږ په دغو پیغمبرانو پسې عیسیٰ خوئې دَ مریم راولېږلو چه دَ هغه کتاب تصدیق ئې کولو

لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۪ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ

دَ هغه څه چه | له دے نه وړاندے وُو | چه تورات دے | او مونږ ورکړو هغه ته | انجیل

چه له دے نه وړاندے وو یعنی تورات، او مونږ هغه له انجیل ورکړو

فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

چه په دے کښې | هدایت | او رڼا ده | او تصدیق کوونکے وو | دَ هغه څه | چه وړاندے له هغه وو

چه په هغے کښې هدایت او رڼا وه، او دا کتاب تصدیق کوونکے وو دَ تورات چه له

مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٦﴾ؕ وَلْيَحْكُمْ

چه تورات دے | او هدایت | او نصیحت وو | پرهیزګارانو دَ پاره | او فیصله دِ وکړي

دے نه وړاندے نازل شوے وو او دا دَ پرهیزګارانو دَ پاره هدایت او نصیحت وُو او پکار دا وُو چه دَ

اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ

اهلِ انجیل | په هغه څه | چه نازل کړي دي | الله | په دے کښې | او څوک چه | فیصله ونه کړي

انجیل منونکو دَ هغې حکمونو مطابق فیصله کولے کوم چه الله تعالیٰ په انجیل کښې نازل کړل، او څوک چه دَ الله تعالیٰ

بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَاَنْزَلْنَآ

په هغه څه | چه نازل کړي دي | الله | نو هغوی دي | نافرمانه | او مونږ نازل کړو

دَ نازل کړو تعلیماتو مطابق فیصله ونه کړي نو هم دا سے خلق نافرمانه دي. او (اے پیغمبره!)

اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

ستا طرف ته | دا کتاب (قرآن) | په حق سره | تصدیق کوونکے | دَ هغه څه | چه دَ دے نه وړاندے وو

مونږ ستا طرف ته رښتونے کتاب درولېږلو چه دَ هغو کتابونو تصدیق کوونکے دے چه دَ وړاندے

مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ

له کتاب نه | او محافظ دے | په هغے باندې | پس حکم وکړه | دَ دوی په مینځ کښې | په هغه څه

نه وُو او دَ هغو محافظ هم دے، نو ته دَ هغو احکامو مطابق دَ خلقو ترمینځه فیصله کوه

اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؕ

چه نازل کړي دي | الله | او پیروي مه کوه | دَ دوی دَ خواهشاتو | له هغه څه نه چه تا ته راغلي دي | له حکم دَ حق نه

کوم چه الله تعالیٰ نازل کړي دي او دَ دوی په خواهشاتو پسې مه ځه دَ هغې حق لارے په مقابله کښې چه تا ته راغلے ده.

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

هر یو ډلې دپاره له تاسو مقرر کړې ده موږ | یو شریعت | او طریقه | او که چېرې غوښتلې | الله

موږ تاسو کښې هر یو (ډلې) له یو خاص شریعت او خاص لار مقرر کړې ده. او که الله تعالیٰ ته منظوره وې

لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ

نو خامخا به یې کړي وای تاسو | یو امت | او لیکن چه | ازمائي تاسو | په هغه څه کښې | چه ورکړي یې تاسو ته

نو تاسو ټول به یې یو امت کړي وی ، خو هغه داغواړي چه په خپلو حکمونو کښې ستاسو ازمېښت وکړي نو د

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ۚ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ

نو وړاندې شئ | نیکیو ته | الله طرف ته | واپس تلل دی ستاسو | د ټولو | پس هغه به تاسو ته ښائي

نیکئ کارونو ته وړاندې شئ ، آخر ستاسو د ټولو الله تعالیٰ طرف ته واپس تلل دی ، بیا به هغه تاسو ته

بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۙ﴿٤٨﴾ وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ

هغه څه | چه تاسو به | په هغې کښې | اختلاف کولو | او (دا) چه | فیصله وکړه | د دوی په مینځ کښې | د هغه څه

د هغه څیز حقیقت وښائي په کوم کښې چه تاسو په خپل مینځ کښې اختلاف کولو . او (اے پیغمبره!) د دوی ترمینځه د هغه

اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ

چه نازل کړل | الله | او پیروي مه کوه | د دوی د خواهشاتو | او محتاط اوسه له دوی نه | چه دوی تا په فتنه کښې وانه چوي

حکم مطابق فیصله کوه ، او د دوی په خواهشاتو پسې مه ځه او د دوی له طرفه محتاط اوسه چه د دوی دا یو حکم نه

عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ

په څه (حکم) کښې | کوم چه | نازل کړي دي | الله | ستا طرف ته | بیا که چېرې | دوی مخ واړوي | نو پوهه شه

د هم وانه ړوي کوم چه الله تعالیٰ تا ته رالېږلے دے . بیا که چېرې دوی نه منی نو پوهه شه

اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ۗ وَاِنَّ كَثِيْرًا

چه بیشکه | غواړي | الله | چه سزا ورکړي دوی ته | په سبب د ځنې | ګناهونو د دوی | او بیشکه | ډیر

چه الله تعالیٰ ته دا منظوره ده چه دوی له د ځنو ګناهونو (په دې دنیا کښې) سزا ورکړي او په دې کښې شک

مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ۗ وَمَنْ اَحْسَنُ

له خلقو نه | فاسقان دي | پس آیا فیصله | د جاهلیت | غواړي دوی | او څوک دے ډیر ښه

نشته چه په خلقو کښې ډیر نافرمانه دی . نو آیا دا خلق د جاهلیت د وختونو فیصلے غواړي؟ او یقین لرونکو

مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿٥٠﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

له الله نه | په فیصله کولو کښې | دپاره د هغه قوم | چه یقین لري | اے | مؤمنانو!

دپاره د الله تعالیٰ نه بهتره فیصله د بل چا کیدے شي؟ اے مؤمنانو!

لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ

مه جوړوئ تاسو | یهود | او نصارٰی | دوستان | ځنے د دوی دوستان د ځنو دی

یهودیانو او نصاراؤ سره دوستی مه کوئ ، دوی په خپلو کښې د یو بل دوستان دی .

ع ٧ / ١١

وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللّٰهَ

او څوک چه | دوستان ونیسي دوی | له تاسو نه | نو بیشکه هغه | له دوی نه دے | بیشکه | الله

او که په تاسو کښې څوک دوی سره دوستي ساتي نو د هغوی په تول کښې به شمیرلے شي، الله تعالیٰ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾ فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ

هدایت نه کوی | قوم | د ظالمانو ته | پس ته به وګورې | هغه خلق | چه په زړونو د هغوی کښې

ظالمان خلق د هدایت نه محروم ساتي۔ نو (اے پیغمبره!) د کومو خلقو په زړونو کښې چه (د نفاق)

مَّرَضٌ يُّسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَنْ تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ۭ

بیماری (ده) | چه هغوی منډې وهي | د هغوی طرف ته | هغوی وائي | مونږ ویریږو | چه وبه رسیږي مونږ ته | څه مصیبت

بیماری ده هغوی په منډه منډه په دے خلقو کښې ورننوځي، وائي چه مونږ ویریږو چه د مصیبت په چکر کښې رانه شو،

فَعَسَى اللّٰهُ أَنْ يَّأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهِ

پس نزدې ده | چه الله به | راولی | فتح | یا (څه بل) حکم | د خپل طرف نه

زر ده چه الله تعالیٰ به تاسو له لویه فتح درکړي یا به د خپل طرف نه څه بله فیصله وفرمائي

فَيُصْبِحُوا عَلَى مَآ أَسَرُّوا فِيْٓ أَنْفُسِهِمْ نٰدِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَيَقُولُ الَّذِينَ

پس شي به دوی | په هغه څه | چه پټ یے ساتي دوی | په خپلو زړونو کښې | شرمنده۔ | او وائي به | هغه خلق چه

بیا به دا (منافق) خلق په هغه خبره باندې شرمنده شي کومه چه هغوی په خپلو زړونو کښې پټه ساتلې وه۔ او د ایمان خاوندان به

اٰمَنُوْٓا أَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللّٰهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ۙ

مؤمنان دی | آیا دا هغه خلق دی چه | قسمونه یے خوړل | په الله | ډیر په تاکید سره

وائي چه آیا دا هغه خلق دی کوم چه د الله تعالیٰ سخت قسمونه خوړل وو.

إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۭ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُوا خٰسِرِينَ ﴿٥٣﴾

چه بیشکه دوی | خامخا تاسو سره دي | برباد شول | عملونه د دوی | بیا شول دوی | نقصان مونده ونکي

چه مونږ ستاسو پاخه ملګري یو۔ د دے خلقو ټول عملونه ضائع شول او آخر دوی ناکامه او نامراده شول.

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ

اے د ایمان خاوندانو! | څوک چه | واوړي | له تاسو نه | د خپل دین نه

اے مسلمانانو! په تاسو کښې چه څوک د خپل دین نه واوړي، نو

فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗٓ ۙ

پس زر ده | چه رابه وړلي | الله | (یو بل) ډله | چه خوښوی به هغه دوی | او دوی به خوښوی هغه

الله تعالیٰ به نور داسې خلق راپیدا کړي چه هغوی به د الله خوښ وي او الله به د هغوی خوښ وي

أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِينَ ۡ يُجَاهِدُونَ

نرم به وي | مؤمنانو د پاره | سخت به وي | کافرانو د پاره | جهاد به کوي

کوم چه به د مسلمانانو د پاره نرم وي او کافرانو د پاره به سخت وي، هغوی به د الله تعالیٰ

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ

دَ الله په لاره کښې | او نۀ به ویریږی | لۀ ملامتیا | دَ ملامت کوونکو نه | دا | فضل دَ الله دے

په لار کښې جهاد کوی او دَ ملامتیا کوونکو دَ ملامتې پروا به نۀ کوی ۔ دا دَ الله تعالیٰ فضل دے

يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ

هغه ورکوی | چاته چه وغواړی | او الله | خاوند دَ فراخئ | او پوهه دے | بیشکه | ستاسو دوست (خو) | الله

چه چاله ئې خوښه شی هغه ئې ورکوی ، او الله خاوند دَ فراخئ او په هرڅه پوهه دے ۔ ستاسو ملګری خو په حقیقت کښې الله

وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ

او دَ هغهٔ رسول | او هغه مؤمنان دی | کوم چه | قائموی | مونځ | او ورکوی

الله او دَ هغهٔ رسول او هغه مؤمنان دی کوم چه مونځونه په پابندئ سره کوی او زکوٰة

الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

زکوٰة | او دوی | ټیټ شوی دی (الله ته) | او څوک چه | دوستی کوی | الله سره | او دَ هغهٔ رسول سره

ورکوی او الله تعالیٰ ته سرونه ټیټوی ۔ او څوک چه دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول سره

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٥٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع ٨ ١٢

او دَ مؤمنانو سره | نو بیشکه | ډله دَ الله | هم دوی دی غالب | اے ایمان والو!

او مؤمنانو سره ملګری شی ، نو دَ الله تعالیٰ ټولے همیشه غالب وی ۔ اے مسلمانانو!

لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا

مۀ جوړوئ (دوست) | هغه خلق چه نیولے دے دوی | ستاسو دین | ټوقے | او لوبے

هغو خلقو سره دوستی مۀ ساتئ چه ستاسو په دین پورے ټوقے او مسخرے کوی ،

مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ

له هغو خلقو نه | کوم چه ورکړے شوی وو | کتاب | له تاسو نه وړاندې | او (نه) کفار | خپل دوستان

که تاسو نه وړاندې اهل کتاب دی او که کافران دی ۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِذَا نَادَيْتُمْ

او ویریږئ | دَ الله نه | که چرے یئ تاسو | دَ ایمان خاوندان | او هر کله چه | تاسو رابلئ

او دَ الله تعالیٰ نه ویره کوئ که په رښتیا مومنان یئ ۔ او هر کله چه تاسو مونځ دَ

اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

مونځ طرف ته | نو دوی نیسی هغه | ټوقے | او لوبے | دا | په دے وجه چه دوی

پاره رابلئ نو دا خلق دا ټوقے او لوبے ګنړی ، دَ دے وجه دا ده چه دا خلق

قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ

دَ خلق دی | چه نۀ پوهیږی | ووایه | اے اهل کتابو! | آیا | تاسو انتقام اخلئ

عقل نه لری ، دوی ته ووایه چه اے اهل کتابو ! تاسو مونږ کښې نوی څۀ عیب ګورئ

مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ

موږ نه | مګر دا چه | موږ ایمان راوړی دی | په الله | او په هغه څه | چه نازل شول | په موږ | او په هغه څه | چه نازل شول

سوا د دې نه چه موږ په الله تعالیٰ ایمان راوړی دی او په هغه کتاب چه موږ ته راغلی دی او په هغه کتابونو چه وړاندې

مِنْ قَبْلُ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ قُلْ هَلْ

وړاندې له دې نه | او دا چه | اکثر له تاسو نه | نافرمانه دی | ووایه | آیا

راغلی وو او (اصل وجه دا ده) چه په تاسو کښې اکثر نافرمانه دی . (اې پیغمبره!) ووایه چه آیا زه

اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ مَنْ

زه اوښایم تاسو ته | ډیر بد څیز | له دې نه هم | د بدلې په لحاظ سره | په نزد د الله | هغه څوک چه

تاسو ته د هغو خلقو حال ووایم د کوموانجام چه د الله تعالیٰ سره ډیر خراب دې . دا هغه خلق دی

لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ

لعنت وکړو په هغه | الله | او غضب ئې وکړو | په هغه باندې | او هغه جوړ کړل | له هغوی نه | بیزوګان

په کومو چه الله لعنت کړې دې او غضب ئې پرې کړې دې ، او په دوی کښې ئې څینې بیزوګان او خنزیران

وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ

او خنزیران | او (چا چه) بندګی وکړه | د شیطان | هم دا دی | په ډیره بده درجه کښې | او ډیر ګمراه دی

جوړ کړل او چه د شیطان عبادت کوی ، د دا سې خلقو ځائې ډیر ناکاره دې او د سمې لارې نه

عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

له | سمې | لارې | نه | او هر کله چه | دوی راشی تاسو ته | نو وائی | موږ ایمان راوړو

ډیر بیرته غورځیدلی دی ، او هر کله چه تاسو له دا خلق راشی نو وائی چه موږ ایمان راوړې دې

وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

حال دا دې چه دوی داخل شوی وو | د کفر سره | او دوی | ووتل | د کفر سره | او الله | ښه پوهه دې

حال دا دې چه په کفر کښې راغلی وو او په کفر کښې پسې تنه لاړل ، او کوم څیز چه دوی

بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ

په هغه څه | چه دوی به پټول | او ته به ووینې | ډیر | له دوی نه | چه دوی تیزی بندی

پټوی هغه الله تعالیٰ ته ډیر ښه معلوم دې . او ته به په دوی کښې ډیر ووینې چه هغوی په ګناه

فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا

په ګناه کښې | او په ظلم کولو (کښې) | او په حرامو | خوړلو (کښې) | ډیر خراب دې | کوم چه

سرکشئ او حرام مال خوړلو کښې ډیره تیزی کوی یقیناً د هغوی دا عملونه ډیر خراب

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهٰىهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ

دوی کوی . | ولې نه منع کوی دوی | د دوی درویشان | او عالمان خلق | د دوی د ګناه د خبرو

دی . د دوی بزرګان او عالمان دوی د ګناه د خبرو کولو نه او حرام مال خوړلو نه

وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۭ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾ وَقَالَتِ

او د حرامو خوړلو نه | ډیر خراب دی | څه چه | دوی کوی . | او وائی

ولے نه منع کوی ؟ واقعی چه د دوی دا کارونه ډیر خراب دی . او یهودیان وائی چه

الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ۭ غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ

یهود | (چه) د الله لاس | تړلے شوے دے | د دوی تړلے شی | لاسونه د دوی | او لعنت وشو په دوی باندی | په دے د دوی د خبرے

د الله لاسونه تړلی دی (یعنی الله بخیل دے) تړلی خو د دوی لاسونه دی او په دے خبره کولو په دوی لعنت وشو

بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاۗءُ ۭ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا

بلکه | دواړه لاسونه د هغه | پرانستی دی | هغه خرڅ کوی | څنګه چه غواړی | او خامخا زیاتوی | ډیرو له

بلکه د الله تعالٰی لاسونه خو پرانستی دی چه څنګه غواړی هغسے خرڅ کوی، او حقیقت دا دے چه تا ته

مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۭ

له دوی نه | څه چه | نازل شوی ګی | تا ته | له طرفه د رب ستا | په نافرمانئ | او کفر کښے

د الله تعالٰی د طرف نه کوم (کتاب) راغلے دے هغه په دوی کښے د ډیرو خلقو د پاره د سرکشئ او کفر سبب ګرځیدلے دے

وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاۗءَ اِلٰي يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۭ

او واچوله مونږ | د دوی په مینځ کښے | دښمنی | او کینه | تر ورځے د قیامت پورے

او (د دے په سزا کښے) مونږ د دوی تر مینځه تر قیامته پورے دښمنی او بغض واچولو

كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ

هر کله چه | دوی بل کړی | اور | د جنګ د پاره | نو مړ کړی هغه | الله | او دوی کوشش کوی

هر کله چه دوی د جنګ اور بلوی ، الله تعالٰی هغه مړ کړی ، او دوی د زمکے

فِي الْاَرْضِ فَسَادًا ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٤﴾

په زمکه کښے | د فساد | او الله | نه خوښوی | فساد کوونکی

په مخ فساد جوړول غواړی او فسادیان د الله تعالٰی خوښ نه دی ،

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ

او که چیرے هغه | اهل کتابو | ایمان راوړے وے | او پرهیزګاری کولے | نو مونږ به ورک کړی وو | د دوی نه

او که دے اهلِ کتابو ایمان راوړے وے او د الله تعالٰی نه ویریدلے نو مونږ به یقینًا د دوی

سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ

د دوی ګناهونه | او خامخا به مونږ داخل کړی وو دوی | په باغونو | د نعمت کښے | او که چیرے دوی

ګناهونه معاف کړی وو او دوی به مو د نعمتونو په باغونو کښے داخل کړی وو او که دوی به تورات

اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ

قائم ساتلے | تورات | او انجیل | او څه چه | نازل شول | دوی ته | د دوی د رب له طرفه

او په انجیل او په هغه کتاب چه د الله تعالٰی د طرف نه ورته راغلے دے قائم ولاړ وے

لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ

خامخا به خوړل | له پاسه خپل نه | او د لاندې | د ښپو خپلو نه | ځنې له دوی نه

نو البته دوی به د پاسه (اسمان) طرف نه هم رزق حاصلولو او د خپلو ښپو لاندې (زمکې) نه هم (به دوی ته رزق ملاویدلو) په دوی

اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٦﴾

یوه ډله ده | میانه رو | او ډیر | له دوی نه | بد | کار دوی کوی۔

کښې یو ټوله په سمه لار روان هم دی، خو اکثر کسان په کښې ډیر بد عمله دی۔

يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ

اے پیغمبره! | ورسوه | هغه څه چه | نازل شوی دی | تا ته | ستا د رب له طرف نه

اے پیغمبره! په تا چه د خپل خدائے د طرف نه کوم (حکمونه) را نازل شوی دی هغه خلقو ته ورسوه،

وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ

او که چرې | تا دا سے ونه کړل | پس نه به وی رسولے تا | د هغه پیغام | او الله | به ساتی تا

او که دا کار دِ ونه کړو نو (گویا) تا د الله تعالیٰ پیغام ونه رسولو او الله تعالیٰ به تا د خلقو د شر

مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٧﴾ قُلْ

د خلقو نه | بیشکه | الله | لار نه ښائی | قوم | د کافرانو ته | ووایه

نه بچ ساتی، بیشکه الله تعالیٰ کافرانو ته سمه لار نه ښائی، ورته ووایه

يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَىْءٍ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ

اے اهل کتابو! | نه یئی تاسو | (د دین) په څه شیز باندې | تر دے چه | تاسو قائم کړئ | تورات

اے اهل کتابو! ستاسو هیڅ دین نشته ترڅو چه تاسو تورات، انجیل او هغه (کتابونه)

وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا

او انجیل | او هغه څه چه | نازل شوی | تاسو ته | ستاسو د رب د طرف نه | او خامخا زیاتوی | ډیرو ته

نافذ نه کړئ، چه په تاسو باندې ستاسو د رب د طرف نه نازل شول۔ او کوم فرمان چه تا ته راغلے

مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ

له دوی نه | څه چه | نازل شوله | ستا طرف ته | ستا د رب له طرف نه | نافرمانی | او کفر | پس افسوس مه کوه

هغه به د دوی د ډیرو کسانو په حقله د زیاتے سرکشئ او د غټ کفر سبب وگرځی، نو ته د دے کافر

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ

په قوم | د کافرانو | بیشکه کوم چه مسلمانان دی | او کوم چه یهودیان دی | او صابئین

قوم په حقله هیڅ یو غم مه کوه۔ بیشکه څوک چه مؤمنان دی یا یهودیان یا صابیان

وَالنَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ

او نصاریٰ | څوک چه | ایمان راوړی | په الله | او په ورځ | د آخرت | او عمل ئے وکړو

یا نصاریٰ دی، په دوی کښې څوک چه په الله تعالیٰ او په آخرت ایمان راوړی او نیک

ع ۹ ۱۴

صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾ لَقَدْ أَخَذْنَا

نیک | پس نشته ویره | په دوی باندې | او نه به دوی | غمژن وي | بیشکه | موږ اخستې وه

کارونه کوي ، نو د هغوی د پاره نه څه ویره شته او نه څه غم ، موږ د بني اسرائیلو نه

مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَأَرْسَلْنَا إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَاءَهُمْ

پخه وعده | له بني اسرائیلو | او موږ ولیږل | هغوی ته | رسولان | کله چې به | راغی دوی ته

پخه وعده اخستې وه ، او ډېر پیغمبران مو ورته لیږلي وو ، خو هر کله چې یو پیغمبر

رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا وَفَرِيقًا

پیغمبر | په هغه څه سره | چې نه به خوښولو | نفسونو د دوی | نو یوه ډله | دوی دروغژن کړله | او یوه ډله

به دوی ته داسې خدائي حکمونه راوړل چې د دوی د خواهشاتو برخلاف به وو نو څوک به ئې دروغژن وګڼل او څوک به

يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوا أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُوا وَصَمُّوا

ئې وژله | او دوی خیال وکړو | چې نه به وي | څه خرابي | بیا ړانده | او کاڼه شول

ئې ووژل او دوی داګمان وکړو چې هیڅ سزا به نه راګیرېږي نو خاوندانو ئې نو هم ړانده کاڼه کړل

ثُمَّ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِّنْهُمْ ۚ

بیا توبه قبوله کړه | الله | د هغوی | بیا ړانده شول | او کاڼه شول | ډېر | له دوی نه

بیا الله تعالی د دوی توبه قبوله کړه ، بیا (دوباره) له دوی نه ډېر (د حق خبرې نه) ړانده او کاڼه شول

وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا

او الله | بینا کوري | هغه څه ته چې دوی ئې کوي | بیشکه | کافر شول | هغه خلق چې | وائي

او الله تعالی د دوی کارونه وینې کوري . هغو خلقو یقیناً کفر وکړو کوم چې وویل

إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ الْمَسِيحُ

بیشکه الله (خو) | عیسیٰ | څوئې | د مریم دې | او وئیلي وو | عیسیٰ

چې خدائې خو بس هم دغه د مریم څوئې مسیح دې . حال دا چې مسیح خو تعلیم ورکړې

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ مَن

اې بني اسرائیلو ! | عبادت وکړئ تاسو د الله | چې زما ربّ | او ستاسو ربّ دې | بیشکه | څوک چې

وو چې اې بني اسرائیلو ! یوازې د الله تعالی عبادت کوئ چې زما او ستاسو د ټولو پالونکې دې ، یقیناً څوک چې

يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ

شریک نیسي | الله سره | پس بیشکه حرام کړې دې | الله | په هغه باندې | جنّت | او ځائې د هغه

الله تعالی سره شریک پیدا کړي نو الله تعالی به په هغه جنّت حرام کړي او د هغه ټیکانه (د

النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا

دوزخ دې | او نشته دې | د ظالمانو | څوک مددګار | بیشکه کافران شول | هغه خلق چې | وائي

دوزخ) اور دې ، او د ظالمانو به څوک مددګار نه وي . یقیناً هغه خلق کافران شول کوم چې وویل

وقف لازم

إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ

چه بېشکه الله | دریم | د دریو دے | او نشته دے هېڅوک | معبود | سوا | د یو معبود نه

چه خدائے په دریو کښې یو دے ، حال دا دے چه د یو معبود نه سوا بل هېڅوک معبود نشته ،

وَإِن لَّمْ يَنتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

او که چرې | منع نهٔ شول دوی | له هغه څه نه | چه وائی ئے دوی | نو ضرور به ورسیږی | هغوته کوم چه | کافر شوی دی

او که (کلمے د شرک) چه دوی وائی که چرے دے نه منع نهٔ شول نو له دوی نه چه کوم خلق کافران شول

مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ

له دوی نه | عذاب | دردناک | پس ایا دوی توبه نهٔ کوی | الله ته | او له هغهٔ نه بخښنه (نهٔ) غواړی

نو هغوی ته به یقیناً دردناک عذاب ملاویږی . نو ایا دوی الله تعالیٰ طرف ته رجوع نهٔ کوی او له هغهٔ نه بخښنه نهٔ غواړی؟

وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧٤﴾ مَّا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ

او الله | بخښونکے | مهربان دے | نهٔ دے عیسیٰ | خوئے د مریم | مگر پېغمبر دے

او الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے . د مریم خوئے مسیح فقط د الله تعالیٰ یو رسول دے .

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا يَأْكُلَانِ

تېر شوی دی | د وړاندې له دهٔ نه | پېغمبران | او د دهٔ مور | (د حق) تصدیق کوونکې وه | هغوی دواړو به خوړلو

له دهٔ نه وړاندې ډیر پېغمبران تېر شوی دی او د دهٔ مور ډیره رښتینې ښځه وه ، او دواړو به (د عام انسانانو

الطَّعَامَ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْآيَاتِ ثُمَّ انظُرْ

طعام | وګوره | چه څنګه | مونږ بیانوو | د دوی د پاره | نخښې | بیا | وګوره

په شان) ډوډۍ خوړه ، وګوره چه مونږ دوی ته څنګه ښکاره نخښې بیانوو ، خو بیا وګوره چه دوی

أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٧٥﴾ قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا

چه کوم خوا | دوی اړولی روان دی | دوایه | ایا تاسو عبادت کوی | په ځائے د الله | د هغه څهٔ

کوم اړخ ته اړولی روان دی . (اے پېغمبره ! دوی ته) دوایه چه ایا تاسو خدائے پرېږدئ او د هغه څه عبادت کوئ

لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ۚ وَاللَّهُ هُوَ السَّمِيعُ

چه ورته اختیار نشته | ستاسو | د نقصان | او نهٔ نفع | او الله | اؤرېدونکے

چه نهٔ نقصان ورکولے شی او نه نفع ، او الله تعالیٰ هر څهٔ اوری ، په هر څهٔ

الْعَلِيمُ ﴿٧٦﴾ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ

پوهه دے | دوایه | اے اهل کتابو ! | مبالغه مهٔ کوئ | په خپل دین کښې | په ناحقه

پوهه دے ، ورته دوایه چه اے اهل کتابو ! تاسو د دین په مسئلو کښې ناحق زیاتے مهٔ کوئ ،

وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِن قَبْلُ وَأَضَلُّوا

او پیروی مهٔ کوئ | د خواهشاتو د هغه قوم | چه ګمراه شول | له دے نه وړاندې | او هغوی ګمراه کړل

او نهٔ د داسے خلقو په (نفسانی) خواهشاتو پسے ځئ چه د وړاندې نه ګمراه شوی دی او نورو ډیر خلق ئے ګمراه

ع ١١ ١٤

كَثِيرًا وَضَلُّوا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيلِ ﴿٧٧﴾ لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا

ډیرخلق | او ګمراه شول | له سمې لارې نه | لعنت کړے شوے دے | په هغو خلقو | چه کافران دي

کړي دي او د سمې لارې نه ورک شوي دي ، په بني اسرائیلو کښې څوک چه کافران شوي دو

مِنْ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ

له بني اسرائیلو نه | په ژبه د | داؤد ؑ | او د عیسیٰ ؑ | ځوئ د مریم ؑ

په هغوی باندې د داؤد او د عیسیٰ بن مریم (علیهما السلام) په ژبه لعنت ویلے شوے دے .

ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ

دا | په دے وجه چه نافرمانه شول | او له حد نه تیرشول | دوي نه منع کیدل | د هغه خراب کار نه

ځکه چه دوي نافرمانه وو او د حد نه وړاندې تیریدل . دوي چه کوم بد کار وو نه کول د هغه نه (په هغه

فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ

کوم چه دوي کولو | ډیرخراب وو کوم عمل چه | دوي کولو | ته به د ګورے | ډیر | له دوي نه

وخت) نه منع کیدل ، واقعي د دوي دا کار ډیر بد وو ، (اوس هم) ته به دوي کښې ډیر کسان وینې چه

يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنْفُسُهُمْ أَنْ

چه دوستي کوي | د هغو سره | چه کافران دي | یقیناً ډیرخراب دے | چه وړاندې ولیږل لو ځان د پاره | دوي (ځپل) | چه

د (مشرکانو) کافرانو سره ملګرتیا کوي . دوي چه کوم عمل د ځان د پاره وړاندې لیږلے دے هغه ډیرخراب دے

سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿٨٠﴾ وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ

ناراضه شو | الله | په دوي باندے | او په عذاب کښې | دوي به همیشه وي | او که چرے ایمان راوړے وے دوي

او الله ورته قهرېدلے دے ، او تل به په عذاب کښې پراته وي . او که دوي الله او رسول او په

بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ

په الله باندې | او نبي باندې | او په هغه څه چه نازل شوي دي ده ته | نو نه به وو نیولي دي کافران دوستان | لیکن اکثر خلق | له دوي نه

هغه باندې راغلے کتاب ﷺ نو کافرانو سره به ئې ملګرتیا نه کوله ، خو په دوي کښې ډیرخلق نافرمان

فَاسِقُونَ ﴿٨١﴾ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ

فاسقان دي | خامخا به بیاموم ته | ډیرسخت | له خلقو نه | په عداوت | د مؤمنانو کښې | یهودیان

دي ، ته به د مسلمانانو سره په دښمنۍ کولو کښې د ټولو نه سخت یهودیان او مشرکان

وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا

او مشرکان | او خامخا به بیامومے ته | د ټولو نه ډیر نزدے | په محبت کښې | د مسلمانانو سره | هغه خلق چه | وائي

بیامومے ، او د مسلمانانو سره په دوستۍ ساتلو کښې د ټولو نه نزدے هغه خلق بیامومے چه ځانته

إِنَّا نَصَارَىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

مونږ نصارٰی یو | دا په دے وجه چه له دوي نه دي | عالمان | او درویشان | او دوي | غرور نه کوي .

ته نصارٰی وائي ځکه چه په دوي کښې عالمان او ګوشه نشین درویشان (موجود) دي او ځکه چه دا خلق تکبر نه کوي .

القرآن الکریم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانہ ترجمہ

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ

او هر کله چه واوریدل دوی | کوم (کلام) چه | نازل کړے شو | رسول طرف ته | نو گورے ته | سترگے د دوی

او چه هغه کلام واوری چه پیغمبر ته راغلے دے ، نو ته گورے چه د دوی

تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ۖ يَقُولُونَ

چه تویوی | اوښکے | په سبب د هغه | چه پیژندلی دی دوی | له حق نه | دوی وائی

سترگے اوښکے څڅوی ځکه چه دوی حق وپیژندلو ، دوی وائی

رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا

اے زمونږ ربه! | مونږ ایمان راوړو | پس ولیکه مونږ | (د حق) شهادت ورکوونکو سره | او څه (عذر دے) مونږ د پاره

اے زمونږ ربه! مونږ ایمان راوړے دے نو د گواهانو (په فهرست) کښے زمونږ نوم ولیکه او مونږ سره څه عذر

لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا

چه ایمان رانه وړو مونږ | په الله | او څه چه | راغلی دی مونږ ته | له حق نه | او مونږ امید لرو | چه مونږ به داخل کړی

دے چه مونږ په الله تعالیٰ او په هغه حق چه مونږ ته راغلے دے ایمان نه راوړو ، هر کله چه دا طمع لرو چه الله تعالیٰ

رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا جَنَّاتٍ

زمونږ رب | صالحانو خلقو سره | پس بدله ورکړه دوی ته | الله | په وجه د وینا بانږ | جنتونه

به مو د نیکانو په ټولی کښے شامل کړی . نو د دے وینا په وجه الله تعالیٰ به دوی له داسے باغونه ورکړی

تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ

چه بهیږی | د هغے لاندے | نهرونه | همیشه به وی دوی | په هغے کښے | او دا ده | بدله

چه د هغے لاندے ویالے بهیږی ، دوی به په هغے کښے همیشه وی ، او د نیکانو د پاره هم

الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ

د نیکانو | او کوم خلق چه | انکار وکړو | او دروغژن ئے کړل | زمونږ ایتونه | هم دوی دی

دغه بدله ده . او چا چه انکار وکړو او زمونږ ایتونه ئے دروغ وگڼل نو هم دغه

أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿٨٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ

دوزخیان | اے د ایمان خاوندانو! | مه حراموئ | (هغه) پاکیزه څیزونه

خلق دوزخیان دی . اے مسلمانانو! الله تعالیٰ چه تاسو له کوم پاکیزه

مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿٨٧﴾

کوم چه | حلال کړی دی | الله | تاسو د پاره | او له حد نه مه تیریږئ | بیشکه الله | نه خوښوی | له حد نه تیریدونکی

څیزونه حلال کړی دی هغه په ځان مه حراموئ او د اندازے نه زیاتے مه کوئ ، زیاتے کوونکی خلق د الله تعالیٰ خوښ نه دی .

وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ

او خورئ | له هغه څه نه | کوم رزق چه درکړے دے تاسو ته الله | حلال | پاکیزه | او ویریږئ | له الله نه

او الله تعالیٰ چه تاسو له کوم حلال پاکیزه څیزونه درکړی دی هغه خورئ څښئ او د هغه نه اخلے نه ویره کوئ

الَّذِيٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿٨٨﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيٓ اَيْمَانِكُمْ

په کوم چه | تاسو | ایمان لرئ | نه نیسي تاسو | الله | په عبثو | قسمونو ستاسو

چه تاسو پرې ایمان راوړې دې . الله تعالیٰ تاسو په عبثو قسمونو باندې نه نیسي

وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ

او لیکن | نیسي تاسو | په هغه | چه تاسو په پخه (اراده کلکه) قسمونه خوړلي | پس د هغې کفاره ده | طعام ورکول

مګر په هغه قسمونو به مو (خامخا) نیسي چه تاسو قصداً خوړلي وي نو د داسې قسم (ماتولو) کفاره دا ده چه

عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ

لسو | مسکینانو ته | د میانه درجې | کوم چه | تاسو خوروئ | خپل کور والو ته | یا دوی ته جامې ورکول

لسو مسکینانو له داسې ډوډۍ ورکړئ کومه چه تاسو په خپل کور والا باندې خوروئ یا دوی ته جامې ورکوئ

اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ۭ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ۭ

یا ازادول | د یو غلام | پس څوک چه | بیا نه موندي | نو روژې ساتل دي | درې | ورځې

یا یو غلام آزاد کړئ ، نو څوک چه د دې طاقت نه لري نو هغه د درې ورځې روژې ساتي،

ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ۭ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ۭ

دا | کفاره ده | ستاسو د قسمونو | کله چه | تاسو قسم وخوړئ | او حفاظت وکړئ | د خپلو قسمونو

دا ستاسو د قسمونو کفاره ده کله چه قسم وخوړئ (او دا پوره نه کړئ) او د خپلو قسمونو حفاظت کوئ

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٨٩﴾

دغه شان | بیانوي | الله | تاسو ته | خپل ایتونه | چه تاسو | شکر کوئ

دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل حکمونه بیانوي چه تاسو شکر ادا کړئ .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ

اې | مؤمنانو ! | بیشکه | شراب | او جواري | او بتان | او غشي د پال

اې مؤمنانو ! شراب څښل ، جواري کول ، د بتانو عبادت کول او د ګټې بیلات غشي ویشتل

رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٩٠﴾

پلیت دي | د شیطان له عمل نه دي | پس ځان وساتئ له دې نه | چه تاسو | کامیاب شئ .

ناپاک شیطاني کارونه دي ، نو د دې نه ځان بچ ساتئ چه تاسو نجات بیا مومئ .

اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ

بیشکه | غواړي | شیطان | چه واچوي | ستاسو په مینځ کښې | دښمني | او بغض

شیطان خو غواړي چه ستاسو په مینځ کښې د شرابو او جوارۍ په ذریعه دښمني

فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ

په ذریعه د شرابو | او جوارۍ | او منع کړي تاسو | د الله د یادولو نه | او د مونځ نه

او بغض پیدا کړي او تاسو د الله تعالیٰ د ذکر نه او د مونځ نه منع کړي

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿٩١﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ

پس آیا | تاسو به | منع شئ | او حکم منئ | دَ الله | او حکم منئ | دَ رسول

نو آیا اوس به هم تاسو (دَ دې بدیو نه) منع شئ؟ او دَ الله تعالیٰ حکم منئ ، او دَ رسول حکم منئ

وَاحْذَرُوْا ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ

او ډېر ویریږئ | بیا که چرې | تاسو مخ واړولو | نو پوهه شئ | چه بیشکه | زمونږ په پیغمبر باندې | رسول دی

او احتیاط ساتئ ، په دې هم که چرې تاسو مخ واړولو نو پوهه شئ چه زمونږ دَ رسول کار خو واضحه حکمونه

الْمُبِيْنُ ﴿٩٢﴾ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

ښکاره | نشته دې | په هغو خلقو باندې (چه) | ایمان ئې راوړو | او عملونه ئې وکړل | نیک

رسول دی ، چا چه ایمان راوړے دے او هغوی نیک عملونه کړی دی په هغوی باندې دَ هغو څیزونو

جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

(څه) ګناه | په هغه څه کښې | چه ئې خوړل | هر کله چه پرهیزګاري ئې وکړه | او ایمان ئې راوړو | او عملونه ئې وکړل | نیک

په حقله هیڅ ګناه نشته کوم چه (دَ شراب وغیره دَ حرمت نه وړاندې) هغوی خوړلي څښلي دی او اوس ئې ځان ساتي او په ایمان او نیک

ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

بیا ئې پرهیزګاري وکړه | او ایمان ئې راوړو | بیا ئې پرهیزګاري وکړه | او ښه کارونه ئې وکړل | او الله | خوښوي

دی او نیکي کوي ، بیا هم پرهیزګار پاتې شي او په ایمان ثابت قدم وي بیا پرهیزګاري وکړي او نیکي کوي او دا سې نیک خلق دَ الله

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٩٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ

نیکي کوونکي | اے دَ ایمان خاوندانو! | خامخا به وُ ازمائي تاسو | الله | په څه څیز

ډېر خوښ وي ، اے مسلمانانو! الله تعالیٰ به تاسو دَ هغې لږ ډېر ښکار په وجه په ازمېښت

مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ

له ښکار نه | کوم ته چه ورسیږي | ستاسو لاسونه | او ستاسو نیزې | چه ښکاره کړي | الله

کښې واچوي ، چه ستاسو لاسونه او نیزې به ور رسیږي ، چه الله تعالیٰ وګوري چه څوک دَ

مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ

چه څوک ویریږي دَ هغه نه | غائبانه | پس څوک چه | زیاتے وکړي | پس له دے نه | نو هغه لره

دَ هغه نه غائبانه هم ویریږي ، نو څوک چه دَ دے حکم نه پس زیاتے وکړي نو هغه لره

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ

عذاب دے | دردناک | اے دَ ایمان خاوندانو! | مه وژنئ | ښکار | هر کله چه تاسو

دردناکه سزا مقرر ده ۔ اے مؤمنانو! دَ احرام په حالت کښې ښکار مه

حُرُمٌ ؕ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ

احرام تړلي وي | او څوک چه ووژني ښکار | له تاسو نه | قصدًا | تو بدله ده (چه ورکړے شي) | په شان دَ هغې (چه) | هغه ئې ووژلو

وژنئ ، او چا چه قصدًا ښکار ووژلو ، نو دَ هغې بدله دَ هغې (ښکار) په شان یو څاروے

مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًا ۢ بٰلِغَ الْكَعْبَةِ

دَ څارو نه | فیصله دې وکړي دَ دې | دوه انصاف کوونکي | له تاسو نه | په طور دَ قرباني | چه ورسیږي | کعبې ته

دے ، چه ستاسو دوه منصفان په دَ هغې فیصله کوي، قرباني دَ پاره کعبې ته ورسوي ،

اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ

یا کفاره ده | طعام ورکول | مسکینانو ته | یا | برابر | دَ دې | روژې | چه وڅکي

یا دَ هغې کفاره په مسکینانو باندې دوډۍ خوروي یا دَ دې برابر روژې ساتل دي دا ځکه چه دَ خپل

وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ

سزا | دَ خپل کار | معاف کړل الله | هغه څه | چه شوي دي وړاندې | او څوک چه | دوباره وکړي | نو بدل به ئې اخلي | الله

عمل خوند وڅکي ، وړاندې چه څه شوي دي الله تعالیٰ معاف کړل او اوس چه څوک دا کار وکړي نو الله تعالیٰ به ترې نه

مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝٩٥ اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ

دَ هغې نه | او الله | زبردست دے | بدله اخستونکے | حلال شوے دے | په تاسو | ښکار | دَ دریاب

بدله اخلي او الله تعالیٰ (په هرڅه باندې) غالب (او) سزا ورکوونکے دے۔ تاسو دَ پاره دَ دریاب ښکار او دَ دے خوراک

وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ

او دَ هغې خوراک | ستاسو دَ فائدے دَ پاره | او دَ مسافرو دَ پاره | او حرام کړے شوے دے | په تاسو | ښکار | دَ وچې

حلال کړے شوے دے چه تاسو ته او مسافرو ته فائده رسیږي او ترڅو چه تاسو دَ احرام په حالت کښے یئ په تاسو

مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْۤ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝٩٦ جَعَلَ اللّٰهُ

ترڅو چه تاسو یئ | په احرام کښې | او ویریږئ | دَ الله نه | چه دَ هغه طرف ته | به تاسو راجمع کولے شئ | جوړه کړه | الله

باندې دَ وچې ښکار حرام دے او دَ الله تعالیٰ نه ویره کوئ چه ټول به ورته پیش کیږئ. الله تعالیٰ کعبه چه

الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ

کعبه | کور | دَ عزت | دَ قیام ذریعه | خلقو دَ پاره | او میاشتے | دَ حرمت

دَ عزت ځائے دے دَ خلقو دَ (اجتماعي ژوند دَ) قیام سبب ګرځولے دے ، او دغسې دَ حرمت میاشتے او دَ

وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

او دَ قربانۍ څاروي | او دَ پټے والا څاروي | دا | ځکه چه تاسو پوهه شئ | چه | الله | پوهیږي

قربانۍ څاروي او هغه څاروي چه غاړې کښې ئې پټے پراته وي، دا ځکه چه تاسو ته معلومه شي چه الله تعالیٰ دَ

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝٩٧

په هغه څه چه په اسمانونو کښې دي | او په هغه څه چه په زمکه کښې دي | او دا چه | الله | په هر څیز باندې | ښه پوهه دے

اسمانونو او دَ زمکے دَ ټولو څیزونو نه خبر دے او دا چه الله تعالیٰ په هرڅه ښه پوهه دے.

اِعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٩٨

پوهه شئ | چه | الله | سخت | عذاب ورکوونکے دے | او دا چه | الله | بخښونکے | مهربانه دے

خبر شئ چه الله تعالیٰ په سزا ورکولو کښے ډیر سخت دے او دا چه الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے

مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ

نشته دے | په پيغمبر | مګر | رسول (د پيغام) | او الله | پوهيږي | په هغه څه چه تاسو ئې ښکاره کوئ

د رسول په ذمه خو بس پيغام رسول دی ، او الله تعالٰی ته ستاسو څرګند او پټ

وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٩٩﴾ قُلْ لَّا يَسْتَوِى الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ

او په هغه څه | چه تاسو ئې پټوئ | ووايه | برابر نه دی | پليت | او پاک | اګرچه

حالات ټول معلوم دی . (اے پيغمبره ! دوی ته) ووايه چه پاک او ناپاک يو برابر نه دی اګر که د

اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰۤاُولِى الْاَلْبَابِ

په تعجب کښے اچوی تا | ډيروالے | د پليتئ | نو ويريږئ د الله نه | اے د عقل خاوندانو !

ناپاکو څيزونو ډيروالے تا په تعجب کښے واچوی ، نو اے عقلمندوا د الله تعالٰی (د نافرمانئ) نه ويره کوئ

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٠﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ

چه تاسو | کامياب شئ | اے | د ايمان خاوندانو ! | تپوس مه کوئ | د داسے څيزونو

چه تاسو کامياب شئ . اے مسلمانانو ! د داسے څيزونو په حقله پوښتنه مه کوئ

اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ۚ وَاِنْ تَسْئَلُوْا عَنْهَا حِيْنَ

چه که ښکاره شی | تاسو ته | نو غمژن به کړی تاسو | او که | تپوس کوئ تاسو | د هغې په حقله | په داسے وخت کښے

چه که هغه درته ښکاره شی نو بد به دربانډے ولګی ، او که تاسو ئے په داسے وخت کښے تپوس کوئ

يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

چه نازليږی | قرآن | نو ښکاره به شی تاسو ته | معاف وکړه | الله | له هغو (تپوسونو) نه | او الله | بخښونکے

چه قرآن را نازليږی نو هغه به درته خامخا ښکاره کولے شی ، الله تعالٰی تاسو ته معاف وکړه ، او الله بخښونکے

حَلِيْمٌ ﴿١٠١﴾ قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ اَصْبَحُوْا

د زغم خاوند دے | بيشکه تپوس ئے کړی وو (د دغه په نسبت) | يو قوم | له تاسو نه وړاندے | بيا | شول هغوئ

د زغم خاوند دے ، بيشکه يو قوم تاسو نه وړاندے هم داسے تپوسونه کړی وو بيا چه کله هغه ښکاره شول نو د

بِهَا كٰفِرِيْنَ ﴿١٠٢﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ

په هغې بانډے | کافران | نه دے مقرر کړے | الله | بحيره | او نه | سائبه

هغے نه ئے انکار وکړو . الله نه خو بحيره (د کوم څاروی پئ چه د بتانو په نوم کيږی) او نه سائبه (د بتانو په نوم آزاد شوے

وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ ۙ وَّلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ

او نه | وصيله | او نه حام | ليکن | کوم خلق چه | کافران دی | هغوی تړی

څاروی) او نه وصيله (د کوم اوښے چه وړومبے او دويم پيرے ښځے وی) او نه حام (لس ځل بلاربوونکے اوښ) حرام مقرر کړے دے الله خو

عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٣﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ

په الله بانډے | دروغ | او ډيرله دوی نه | عقل نه لری | او کله چه | وويلے شی دوی ته

خلق په الله تعالٰی د دروغو تهمتونه تړی ، او په دوی کښے اکثر بے عقله دی . او هر کله چه ورته وويلے شی

تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا

(چه) راشئ تاسو | د هغه څه طرف ته چه | نازل کړو الله | او د پیغمبر (د حکم) طرف ته | نو دوی وائي | کافي دے مونږ ته د پاره

چه د الله تعالیٰ د نازل کړو حکمونو او رسول طرف ته رجوع وکړئ نو دوی وائیل چه مونږ د پاره هغه طریقه

مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ

هغه څه چه مونږ لیدلي دي | په هغه باندې | پلاران خپل | آیا که څه هم وي | پلاران د دوی | چه نه پوهیدل

بس ده چه خپل پلاران مو پرے موندلي دي اګر که د دوی پلاران په هیڅ نه پوهیدل

شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٠٤﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ ۖ

په هیڅ څیز | او نه | دوی په هدایت باندې وو | اے د ایمان خاوندانو ! | په تاسو (ذمه واري) ده | ستاسو خپله

او د سمے لارے نه خبر نه وو . اے مؤمنانو ! تاسو بس د خپل ځان غم کوئ

لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ ۚ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ

نقصان نه شي دررسولے تاسو ته | څوک چه ګمراه شو | هر کله چه | تاسو هدایت یافته یئ | الله طرف ته دي | واپس تلل ستاسو

تاسو ته ګمراه خلق هیڅ نقصان نه شي دررسولے که چرے تاسو پخپله په هدایت باندې یئ . تاسو ټول به الله تعالیٰ

جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

د ټولو | بیا به هغه وښائي تاسو ته | هغه څه | چه تاسو به کول | اے مؤمنانو !

ته پیش کیږئ نو هغه به در ته وښائي چه تاسو څه څه کارونه کول . اے مؤمنانو !

شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ

ګواهي (پکار ده) | ستاسو په مینځ کښے | کله چه راورسیږي | یو له تاسو نه | مرګ | په وخت | د وصیت کښے

هر کله چه په تاسو کښے چا ته د مرګ (نخښے) ښکاره شي ، نو د وصیت په وخت کښے په تاسو

اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنتُمْ

د دوو سړو | انصاف کوونکو | له تاسو نه | یا | دوه نور وي | تاسو نه سوا | که چرے | تاسو

مسلمانانو کښے دوه معتبر ګواهان موجود پکار دي . یا که چرے تاسو په زمکه د سفر په حالت کښے یئ (او

ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَأَصَابَتْكُم مُّصِيبَةُ الْمَوْتِ ۚ تَحْبِسُونَهُمَا

سفر کوئ | په زمکه کښے | بیا در رسیږي تاسو ته | مصیبت | د مرګ | نو را ایسار کړئ تاسو دواړه

مسلمان ګواه ملاؤ نه شي) او تاسو ته د مرګ مصیبت پیښ شي نو بیا د خپل ځان نه سوا دوه (غیر مسلم) ګواه چرے

مِن بَعْدِ الصَّلَاةِ فَيُقْسِمَانِ بِاللَّهِ إِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِي

پس | له مانځه نه | پس دوی به قسم وخوري | د الله | که چرے تاسو شک وکړئ | چه مونږ به نه اخلو

ګوری (بیا) که چرے تاسو ته د هغوی په صداقت باندې شک وی نو د مونځ نه پس دوی ایسار کړئ بیا د

بِهِ ثَمَنًا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۙ وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللَّهِ

د دے په بدل کښے | قیمت | اګرچه هغه وي | رشته دار | او مونږ نه پټوو | ګواهي | د الله

دوی په الله قسم وخوري چه مونږ به د دے په بدل کښے قیمت نه اخلو اګرچه هغه صاحب د معاملے رشته دار د ښے او د الله ګواهي نه پټوو

إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِينَ ﴿١٠٦﴾ فَإِنْ عُثِرَ عَلٰٓى أَنَّهُمَا اسْتَحَقَّآ

بیشکه مونږ به په دغه وخت | له ګنا هګارانو نه یو | بیا که چرې | معلومه شي | په دې چه دا دواړه | مرتکب شول

یعنې مونږ به ګنا هګار شو ، نو که پته ولګیده چه دغه دواړه ځان په ګناه کښې اخته کړې دے

إِثْمًا فَـَٔاخَرٰنِ يَقُومٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِينَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ

د ګناه | نو دوه نور ګواهان | دې و درېږي | د هغه دواړو په ځاے | له هغو خلقو نه | چه د هغوي حق وهل شوې دے

نو بیا دې د هغوي په ځاے دوه نور سړي د هغه کسانو نه و درېږي چه دا ئې ښو ګواهانو د چا حق وهلے

الْأَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِنْ شَهٰدَتِهِمَا

چه هغوي ډیر نږدې وي مړي ته | بیا دې هغوي قسم وخوري په الله | چه زمونږ ګواهي | زیاته رښتینې ده | د دې دواړو له ګواهۍ نه

دو .. او دواړه دې په الله تعالیٰ قسم وخوري چه زمونږ شهادت د هغوي د ګواهۍ نه زیات برحق دے

وَمَا اعْتَدَيْنَآ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿١٠٧﴾ ذٰلِكَ أَدْنٰىٓ أَنْ يَأْتُوا

او زیاتے نه دے کړے مونږ | بیشکه چه مونږ به په دغه وخت له ظالمانو نه یو | دا زیاته نږدې ده | دې ته چه دوي ورکړي

او مونږ په شهادت کښې زیاتے نه دے کړے کنې نو بیا به په ظالمانو کښې شمېر شو . دا چیره د نږدې لار ده چه دغه

بِالشَّهٰدَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ أَوْ يَخَافُوٓا أَنْ تُرَدَّ أَيْمٰنٌۢ بَعْدَ أَيْمٰنِهِمْ

ګواهي | په صحیح طریقه | یا دو ویرېږي له دې نه | چه رد به کړے شي | قسمونه | پس له قسمونو د دوي نه

شان به خلق شهادت سم سم ادا کړي یا به د دې نه وویرېږي چه د هغوي د قسمونو نه پس به نورو قسمونو د

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوا وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِينَ ﴿١٠٨﴾

او وویرېږئ د الله نه | او واورئ | او الله | سمه لار نه ښائي | قوم | د فاسقانو ته

هغوي تردید وشي او د الله نه ویره کوئ او (د هغه حکم) اورئ الله د فاسقانو قوم ته سمه لار نه ښائي .

يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْ قَالُوا

په کومه ورځ | چه جمع کړي الله | رسولان | بیا به هغه وفرمائي | څه | جواب درکړے شو وو تاسو ته؟ | وُ به وائي

په کومه ورځ چه الله تعالیٰ ټول رسولان راجمع کړي نو تپوس به ترې وکړي چه تاسو ته څه جواب درکړے شو وو

لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنْتَ عَلّٰمُ الْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾ إِذْ قَالَ اللّٰهُ

نشته هیڅ علم | مونږ ته | بیشکه ته | ښه پوهیږې | په غیبو باندې | کله چه | وُ فرمائي | الله

هغوي به جواب ورکړي چه مونږ ته هیڅ علم نشته بیشکه ته د غیبو د خبرو نه خبردار یې . بیا کله چه الله تعالیٰ

يٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلٰى وٰلِدَتِكَ إِذْ

اے عیسیٰ ځوئے د مریم ! | یاد کړه | نعمت زما | په خپل ځان | او په خپلې مور | کله چه

وفرمائي اے د مریم ځویه عیسیٰ ع! ما چه کوم نعمتونه تا له او ستا مور له ورکړي وو هغه یاد کړه چه ما په

أَيَّدْتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا

ما ستا مدد وکړو | په روح القدس سره | چه خبرې کولې تا | خلقو سره | په زانګو کښې | او په پوخ عمر کښې

جبرائیل سره ستا امداد وکړو ، تا په زانګو کښې هم خلقو سره خبرې کولې او په پوخ عمر کښې هم

وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْإِنْجِيلَ ۚ وَإِذْ

او هرکله چه | ما وښودو تاته | کتاب | او حکمت | او تورات | او انجیل | او هرکله چه

او هرکله چه ما تاته دَ کتاب ، حکمت ، تورات او انجیل تعلیم درکړو ، او چه

تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنْفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ

چه جوړولو تا | له خټې نه | پشانۍ دَ صورت | دَ مارغهٔ | زما په حکم | بیا به پوکے وهلو تا | په هغې کښې | نو هغه به شو

تا به زما په حکم دَ خټې نه دَ مارغهٔ شکل جوړولو او پوکے به دِ پکښې کولو ، او زما په حکم

طَيْرًۢا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي ۚ

مارغهٔ | زما په حکم | او ښه کولو به تا | پیدائشی ړوند | او برگے | زما په حکم

به مارغهٔ کیدلو ، او پیدائشی ړاندهٔ او برگی به دِ زما په حکم رَغَول ،

وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِإِذْنِي ۚ وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ

او هرکله چه به تا راوستل | مړی | زما په حکم | او هرکله چه | منع کړل ما | بنی اسرائیل

او مړی به دِ زما په حکم ژوندی کول ، او ما تهٔ دَ بنی اسرائیلو نه بچ

عَنْكَ إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ

له تا نه | هرکله چه تا راوړے هغوی ته | معجزے | بیا ئے ووئیل | هغو خلقو | چه کافران وو | له دوی نه

کړے کله چه تا هغوی ته ښکاره معجزے راوړے ، نو کومو خلقو چه له دوی نه کفر اختیار کړے وو هغوی

إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾ وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّـۧنَ

چه نهٔ دے دا | مگر صرف | جادو (دے) | ښکاره . | او کله چه | ما په زړهٔ کښې واچول | دَ حواریانو

ووئیل چه دا خو دَ واضح جادو نه سوا بل هیڅ نهٔ دی . او یاد کړه کله چه ما دَ حواریانو په زړهٔ کښې واچول

أَنْ ءَامِنُوا بِي وَبِرَسُولِي ۚ قَالُوٓا ءَامَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾

چه | ایمان راوړئ په ما | او زما په رسول | (نو) دوی ووئیل | مونږ ایمان راوړو | او گواه شه | چه بیشکه مونږ | حکم منونکی یو .

چه په ما او زما په رسولانو باندې ایمان راوړئ نو دوی ووئیل چه مونږ ایمان راوړو او اے الله ! ته گواه اوسه چه مونږ

إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ

هرکله چه ووئیل | حواریانو | اے عیسیٰ | ځوئے دَ مریم ! | ایا کولے شی ؟ | ستا رب | چه

فرمانبردار یو (یاد کړه) کله چه حواریانو ووئیل چه اے عیسیٰ دَ مریم ځویه ! ایا ستا رب په مونږ باندې له اسمان

يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ۖ قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ إِنْ كُنْتُمْ

راکوزه کړی | په مونږ باندې | خوانچه | له اسمان نه | ووئیل هغهٔ | ووېرېږئ دَ الله نه | که چرې یئ تاسو

نه دَ خوراک یوه خوانچه راکوزولے شی ، عیسیٰ ورته وفرمائیل چه دَ الله تعالیٰ نه ووېرېږئ که چرے

مُّؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا نُرِيدُ أَنْ نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ

مؤمنان | دوی ووئیل | چه مونږ غواړو | چه وخورو | له دے نه | او ارام ونیسی

واقعی تاسو مؤمنان یئ . هغوی ووئیل ، مونږ خو بس دا غواړو چه دَ هغے نه خوراک وخورو او زړهٔ نه مو په

قُلُوْبُنَا وَنَعْلَمَ اَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا

زموږ زړونه | او پوه شو موږ | چه بیشکه | رښتیا ویلي دي تا موږ ته | او موږ شو | په هغې باندې

تسلي شي او دا راته معلومه شي چه تا موږ ته هر څه رښتیا رښتیا ویلي دي او په دې خبره

مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ

له ګواهانو نه | وویل | عیسیٰ | ځوی | د مریم | (چه) اے الله زموږ ربه

ګواهان شو ، عیسیٰ د مریم ځوی وویل ، اے الله اے زموږ ربه!

اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآىِٕدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا

نازله کړه | په موږ باندې | خوانچه | له اسمان نه | چه وي | موږ دپاره | د خوشحالۍ ورځ

په موږ باندې یوه خوانچه د اسمان نه راکوزه کړه ، چه زموږ دپاره یعنی زموږ د وړاندېنیو

لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ

زموږ د وړاندېنیو | او وروستنو دپاره | او یوه نخښه | ستا د طرف نه | او روزي راکړه موږ ته | او ته

او وروستنو خلقو دپاره د خوشحالۍ موقعه شي او ستا د طرف نه یوه نخښه شي ، او موږ له روزي راکړه ته ډیر

خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿١١٤﴾ قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ

ډیر ښه روزي ورکوونکی یې | وفرمایل الله | بیشکه زه | نازلوونکی یم دا | په تاسو باندې | پس څوک چه انکار وکړي

ښه روزي رسان یې . الله وفرمایل چه زه تاسو ته خوانچه در نازلوونکی یم خو په تاسو کښې چه څوک د دې

بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١١٥﴾

پس له دې | له تاسو نه | نو زه به عذاب ورکوم هغه له | داسې عذاب | چه نه به یې ورکوم هغه | چا یو ته | له جهان والو نه

نه پس هم انکار وکړي نو زه به ورله داسې سزا ورکوم چه په دنیا کښې به مې بل چا له نه وي ورکړې

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ

او کله چه وفرمائي | الله | اے عیسیٰ ځویه د مریم ! | ایا تا ویلي وو | خلقو ته

او هر کله چه الله تعالیٰ (په حشر کښې) وفرمائي اے عیسیٰ د مریم ځویه! ایا تا خلقو ته ویلي وو چه د الله

اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ قَالَ سُبْحٰنَكَ

(چه) ونیسئ ما | او زما مور | دوه معبودان | په ځائے | د الله | ویه وائي | پاک یې ته

سوا ما او زما مور دواړه په ځای ایل ونیسئ ، هغه به وائي اے الله! ته پاک یې

مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ ۚ بِحَقٍّ ۗ اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ

نه دی مناسب ما له | چه ووایم | هغه خبره | چه نه دے زما حق | که چرے | ما دا ویلي وے

ما داسې نشوه کولے چه هغه خبره مې د خلے نه ایستلې چه ما ته یې حق حاصل نه وو ، که ما ویلي وے نو تا ته

فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ۗ تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِكَ

نو بیشکه هغه به معلوم وه تا ته | ته پوهېږې | په هغه څه چه زما زړه کښې دي | او زه نه پوهېږم | په هغه څه چه ستا په زړه کښې دي

به ضرور معلومه وه، تا ته ټول معلوم دي څه چه زما په زړه کښې دي او ما ته نه دي معلوم څه چه ستا په علم کښې دي

الربع

ع ١٥

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝١١٦ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ اَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ

بیشکہ هم ته | ډیر ښه پوهیږې | په غائبو باندې | ما نه دی ویلی | دوی ته | مګر | هغه چه | حکم فرمائیلے وو تا ماته په هغے

بیشکه ته د غیبو په خبرو باندې ښه پوهیږې ! | ما دوی ته د هغے نه سوا هیڅ نه دی ویلی، هغه چه تا حکم

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا

چه عبادت وکړه | د الله | چه زما رب | او ستاسو رب دے | او وم زهٔ | په دوی باندې | باخبره

راکړے وو چه یواځے د الله عبادت کوئ چه زما او ستاسو دواړو رب دے او زهٔ تر هغه وخته خبر وم، ترڅو چه

مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ ۚ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ۭ

ترڅو چه زهٔ وم | په دوی کښے | بیا هر کله چه | تا واخستلم زهٔ | نو وے ته | نګران | په دوی باندې

پکښے موجود وم ، | او هر کله چه تا پسته (راوغوښتم) ، نو بیا (یواځے) ته د هغوی نه خبر وے ،

وَاَنْتَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝١١٧ اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَ

او ته | په هر څیز باندې | ښهٔ باخبره یې . | که چرے ته عذاب ورکوے دوی | نو بیشکه دوی | ستا بندګان دی | او

او اے الله ته د هر څیز نه ښهٔ خبردار یې . | اوس که ته سزا ورکوے نو دوی ستا بندګان دی ، | او

اِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝١١٨ قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ

که ته دوی بخښے | دوی | نو بیشکه ته | غالب | د حکمت خاوند یې | او به فرمائی الله | دا هغه ورځ ده چه

که معاف ورته کوے ، | نو ته غالب او د حکمتونو خاوند یې ، | الله تعالیٰ به ورته ووائی چه دا هغه ورځ

يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ۭ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

نفع رسوی | رښتینو ته | رښتیا د دوی | دوی له | باغونه دی | چه بهیږی | د هغے لاندې | نهرونه

ده چه رښتینو خلقو ته به خپل رښتیا فائده ورکوی ، هغوی له داسے باغونه دی چه لاندې ترے نه ویالے بهیږی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝١١٩

همیشه به وسیږی | په هغے کښے | همیشه همیشه | راضی شو الله | له دوی نه | او راضی شول دوی له هغه نه | دا | کامیابی ده | لویه

او هغوی به په دے کښے همیشه همیشه وی . الله د هغوی نه راضی شو او هغوی د الله نه راضی شول دا ډیره لویه کامیابی ده

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ۭ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١٢٠

الله دپاره ده | بادشاهی | د اسمانونو | او د زمکے | او د هغه څه چه په دے کښے دی | او هغه | په هر څیز باندې | قادر دے

اسمانونه او زمکه او د دے ترمینځه چه څه دی په ټولو د الله تعالیٰ حکومت دے او هغه په هر څیز باندې قدرت لری

سُوْرَةُ الْاَنْعَامِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ خَمْسٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة انعام په مکه کښے نازل شوے ده په دے کښے ١٦٥ ایتونه او ٢٠ رکوع ګانے دی

(شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان زیات رحم کوونکے دے

د الله په نوم شروع کوم چه بے اندازے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ

ټول تعریفونه | الله دپاره دی | هغه کوم چه | پیدا کړل | اسمانونه | او زمکه | او پیدا کړے

ټول تعریفونه هم الله تعالیٰ لره دی چا چه اسمانونه او زمکے پیدا کړی دی او تیارے

الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۬ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ①

تیارے | او رڼا | بیا (هم) کوم خلق چه | کافران دي | خپل رب سره | (نور) برابر گڼري

او رڼائے جوړه کړے ده . بیا هم کافران ، خلق خپل رب سره برابر گڼري -

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰۤى اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ

اوهم هغه دے | چا چه | پیدا کړئ تاسو | له خټے نه | بیا ئے | مقرر کړه | یوه موده | او یوه موده (نوره)

(الله) هغه دے چه تاسو ئے د خاورے نه پیدا کړئ بیا ئے درله د ژوند یوه نیټه مقرر کړه ، او یوه بله

مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ② وَهُوَ اللّٰهُ فِى السَّمٰوٰتِ

مقرره | هغه سره | بیا (هم) تاسو | شک کوئ | اوهم هغه الله | په اسمانونو کښے

نیټه (د قیامت) هم هغه سره مقرره ده بیا هم تاسو شک کوئ . او هم هغه یو خدائے دے چه اسمانونو کښے هم دے

وَفِى الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا

او په زمکه کښے | هغه پوهیږی | ستاسو په پټه | او ستاسو په ښکاره | او پوهیږی | په هغه څه

او په زمکه کښے هم دے هغه ستاسو په پټو او ښکاره ټولو خبرو پوهیږی ، او ستاسو عملونو باندے هم

تَكْسِبُوْنَ ③ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا

چه تاسو ئے کوئ | او نه راځی دوی ته | څه نخښه | له نخښو نه | د رب د دوی | مگر وو دوی | له هغے نه

پوهه دے . او دے (کفارو) ته چه کله هم د الله تعالیٰ د نخښو نه څه نخښه راشی نو دوی له دے نه

مُعْرِضِيْنَ ④ فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ؕ فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ

مخ اړوونکی | پس دوی دروغ وگڼلو | حق | هر کله چه هغه راغلو دوی ته | پس زر دے | به راشی دوی ته

مخ اړوی . (اوس چه کوم پیغام د) حق دوی ته راغلو نو دوی دا (هم) دروغ وگڼلو ، پس زر به دوی ته د

اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑤ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا

خبر (حقیقت) | د هغه څه کوم چه پورے | چه هغوی توقے کولے | آیا نه دی کتلی دوی | چه څومره | هلاک کړل مونږ

هغه څیز حقیقت معلوم شی کوم پورے چه به دوی توقے کولے . دوی نه گوری چه د دوی نه وړاندے مونږ

مِّنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ

له دوی نه وړاندے | قومونه | مونږ طاقت ورکړے وو دوی ته | په زمکه کښے | چه | مونږ طاقت نه دے ورکړے

څومره قومونه هلاک کړی دی ، کوم له چه مونږ په زمکه کښے هغه اقتدار ورکړے وو چه تاسو له مو

لَّكُمْ وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ مِّدْرَارًا ۪ وَّجَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ

تاسو ته | او رالیږلے وو مونږ | له اسمان نه | په دوی باندے | باران | او کړی وو مونږ | نهرونه

نه دے ورکړے او مونږ په هغوی باندے د بره نه (د رحمت) بارانونه ورول او د هغوی د قدمونو لاندے

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا

جاری | د دوی لاندے (قدمونو کښے) | بیا مونږ هلاک کړل دوی | په گناهونو د دوی | او پیدا کړل مونږ

مونږ نهرونه جاری کړل ، بیا مونږ هغوی د هغوی د گناهونو په وجه هلاک کړل او د هغوی نه پس

مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝٦ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا

(سالم) کتاب | په تا باندې | او که چیرې نازل کړی وو موږ | نوې | قومونه | پس له دوی نه

موږ نوې قومونه پیدا کړل ، او (اے پیغمبره!) که چیرے موږ په تا باندې کاغذ باندې لیکلے شوے

فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ

(لیکلے شوے) په کاغذ باندې | او دوی لګولے وے لاسونه | لاسونه خپل | نو خامخا به وئیلي وو | هغو خلقو چه | کافران دی | چه نه دے دا

یو کتاب نازل کړے وے او دوی خپل لاسونه (هم) ورته لګولی وے نو بیا به هم کافرو خلقو داوئیل چه دا خو

اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ؕ

مګر | جادو | ښکاره | او دوی وائي | ولے رانه لیږلے شوه | په ده باندې | فرښته

ښکاره جادو دے . او دغه خلقو وئیل چه په دے (نبی) باندې څوک فرښته ولے نه راکوزیږي؟

وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ۝٨ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ

او که چیرې نازلولے موږ | فرښته | نو ختم شوے به وه | ټوله معامله | بیا به مهلت نه وو ورکړے شوے دوی ته | او که موږ جوړولے هغه

او که موږ فرښته راکوزه کړے وے نو ټوله قصه به خلاصه شوے وه او بیا به دوی ته هیڅ مهلت نه وو ملاو شوے او که چیرے

مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا

فرښته | نو موږ به جوړ کړے وو هغه | سړے | او البته موږ به شبه غورزوله | په دوی باندې | هم هغه

موږ فرښته پیغمبر جوړولے نو هغه به هم موږ د سړي په شکل راکوزوله او دغه په شک کښے به پراته وو

يَلْبِسُوْنَ ۝٩ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ

کوم شبه چه (اوس) کوي | او بیشکه ټوقے شوے دے | پیغمبرانو پورے | د وړاندې له تا نه | نو را چاپیره شو

څنګه چه اوس په شک کښے پراته دي او (اے پیغمبره!) تا نه وړاندې هم ډیرو پیغمبرانو پورے خندا کولے شوی ده خو آخر په هغو

بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝١٠ ع

هغو خلقو باندې کوم چه | ټوقے کړے دے | هغه (پیغمبرانو) سره | هغه (عذاب) | کوم پورے چه به هغوی ټوقے کولے .

ټوقو کوونکو باندې هم هغه عذاب راچاپیره شو کوم پورے چه دوی ټوقے کولے .

قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

ووایه | ووګرځئ | په زمکه کښے | بیا | وګورئ | څنګه شو | انجام

ته ورته ووایه چه (اے خلقو!) د زمکے په مخ وګرځئ (او) بیا وګورئ چه (د حق) دروغ کوونکو څه

الْمُكَذِّبِيْنَ ۝١١ قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلْ

د دروغ ګڼړونکو | تپوس وکړه | د چا دی | څه چه | په اسمانونو کښے | او زمکه (کښے دي)؟ | ووایه

انجام شو ؟ ته ووایه چه په اسمانونو او زمکه کښے څه دي هغه د چا دی ؟ (ته پخپله) ووایه

لِّلّٰهِ ؕ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

د الله دی | لازم کړے ئے دے | په خپل ځان باندې | مهرباني | هغه به ضرور جمع کړي تاسو | په ورځ د قیامت

چه د الله تعالیٰ دی هغه په خپل ځان باندې رحم کول لازم کړی دی. هغه به تاسو ضرور د قیامت په ورځ راجمع کړي

لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ الَّذِينَ خَسِرُوٓا أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾

نشته دے څه شک | په دے کښې | کوم چه | نقصان کښې واچول | خپل ځانونه | پس هغوی | ایمان نه راوړی

د کوم په راتلو کښې چه هیڅ شک نشته او کوم خلق چه ځان په نقصان کښې اچولے دے هغوی ایمان نه راوړونکی دی.

وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٣﴾

او د هغه دی | څه چه آرام کوی | په شپه کښې | او ورځ (کښې) | او هغه دے | آوریدونکے | پوهه

او د هغه په تیاره کښې او د ورځې په رڼا کښې هر څه چه اوسیږی هغه ټول د الله (مخلوق) دی او هغه اوریدونکے (او) پوهه دے

قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

ووایه | آیا بغیر | د الله نه | زه ونیسم | بل دوست | چه پیدا کوونکے | د آسمانونو | او د زمکے دے

ته ووایه چه آیا زه د الله تعالیٰ پریږدم او بل څوک خپل کارساز جوړ کړم چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړی دی،

وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ۗ قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ

او هغه (په ټولو) خوروی | او په هغه څوک نه خوروی | ووایه | بیشکه ما ته حکم شوے دے | چه زه شم | د ټولو نه وړومبے

او هغه ټولو ته روزی ورکوی او هغه له څوک روزی نه ورکوی ورته ووایه چه ما ته خو دا حکم شوے دے چه زه د ټولو نه

مَنْ أَسْلَمَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٤﴾ قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ

اسلام راوړونکے | او | مه کیږه ته | له مشرکانو نه | ووایه | بیشکه زه | ویریږم

کښې وړومبے اسلام قبول کړم او (ما ته حکم دے چه) ته له مشرکانو نه مه شے. ورته ووایه چه که زه د خپل رب

إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ

که چرے | نافرمانی وکړم | د خپل رب | له عذاب | د ورځے | لوئے نه | د چا نه چه هغه واړولے شو

نافرمانی وکړم نو ما سره د یوے لوئے ورځے د عذاب ویره ده، څوک چه په دغه ورځ د عذاب

يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُۥ ۚ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَإِن يَمْسَسْكَ

په دغه ورځ | نو بیشکه هغه رحم وکړو په هغه | او دا ده | کامیابی | ښکاره | او که چرے | ورسوی تا ته

نه بچ شو نو په هغه الله تعالیٰ ډیر رحم وکړو او دا لویه کامیابی ده. او که چرے الله تعالیٰ

اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ

الله | (څه) تکلیف | نو نشته | (څوک) لرے کوونکے | د هغے | د هغه نه سوا | او که چرے | هغه ورسوی تا ته

تا ته څه تکلیف ورسوی نو د هغه نه بغیر هیڅوک نشته چه هغه لرے کړی او که چرے هغه در ته خیر

بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۚ

څه خیر | نو هغه | په هر څیز باندې | قادر دے | او هغه | غالب دے | په خپلو بندګانو باندې

ورسوی نو هغه په هر څه قدرت لری. او هغه په خپلو بندګانو باندې پوره پوره اختیار لری

وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿١٨﴾ قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً ۖ

او هغه | د حکمت خاوند | خبردار دے | ووایه | کوم یو څیز | ډیر لوئے دے | په شهادت کښې؟

او هغه د حکمت خاوند او په هر څه خبردے، ته تپوس وکړه چه د چا ګواهی د ټولو نه لویه ده؟

قُلِ اللّٰهُ ۙ قف شَهِيْدٌۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۚ قف وَاُوْحِيَ اِلَيَّ

ووایه | الله دے | ګواه | په مینځ زما | او په مینځ ستاسو کښې | او وحی شوې ده | زما طرف ته

(ته پیغمبره) ووایه! چه الله تعالیٰ زما او ستاسو ترمینځه ګواه دے ، او په ما باندې دا قرآن

هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَىِٕنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ

دا دے | قرآن | چه زۀ ووېروم تاسو | په دې سره | او ترڅو چه دا ورسیږي | آیا تاسو | ګواهي ورکوئ

نازل شوے دے ، چه د دې په ذریعه تاسو (د عذاب) ووېروم او چا ته چه دا ورسیږي (هغه هم) آیا تاسو دا ګواهي ورکوئ

اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا هُوَ

چه | د الله سره دي | معبودان | نور (هم) | ووایه | زۀ خو دا ګواهي نه ورکوم | ووایه | بیشکه | هم هغه دے

چه الله تعالیٰ سره نور معبودان هم (موجود) دي ، ته ووایه چه زۀ دا ګواهي نۀ ورکوم ، ووایه چه الله خو

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِيْ بَرِيْۤءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹﴾ اَلَّذِيْنَ

معبود | یو | او بیشکه زۀ | بیزاره یم | له هغه څۀ نه | چه تاسو یې شریکان کوئ | هغه خلق چه

هم هغه یو معبود دے او زۀ د هغه څیزونو نه بیزاره یم کوم چه تاسو (د الله سره) شریکوئ . چا ته چه مونږ

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ

ورکړے دے مونږ دوی ته | کتاب | دوی پیژني دا (رسول) | لکه څنګه چه دوی پیژني | خپل ځامن

کتاب ورکړے دے ، هغوی دا (رسول) داسې ښه پیژني څنګه چه خپل ځامن ښه پیژني (خو)

اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ

هغو کومو چه | نقصان کښې دي لړل | خپل ځانونه | پس هغوی | ایمان نۀ راوړي | او څوک | زیات ظالم دے

کومو خلقو چه خپل ځان په زیان کښې اچولے دے ، هغوی به ایمان نۀ راوړي . او د هغه چا نه لوئے ظالم

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ

له هغه چا نه | چه وتړي | په الله باندې | دروغ | یا دروغ ګڼړي | د هغه آیتونه | بیشکه | نه کامیابیږي

څوک دے چه په الله تعالیٰ د دروغو بهتان تړي . یا د هغه (رالیږلې) نخښې دروغژنې ګڼړي داسې ظالمان

الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

ظالمان (خلق) | او په کومه ورځ چه | مونږ جمع کړو دوی | بیا | ټول | مونږ به ووایو | هغو ته کومو چه

هیڅکله کامیابیږي نۀ شي . او په کومه ورځ چه مونږ دوی ټول راجمع کړو ، نو د مشرکانو نه به تپوس

اَشْرَكُوْۤا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ

شرک کړے وو | کوم ځائے دي | ستاسو شریکان | کوم چه | تاسو (د الله سره شریک) ګڼړل | بیا به نۀ وي

وکړو چه ستاسو هغه جوړکړي شریکان څۀ شول؟ چه تاسو ځان له خدایان جوړکړي وُو . بیا به د دوی

فِتْنَتُهُمْ اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾

د دوی (څۀ بله) بهانه | سوا (د دې نه) | چه دوی به وائي | قسم دے په الله | چه زمونږ رب دے | نۀ وو مونږ | مشرکان

سره هیڅ عذر نۀ وي خو دومره قدر به وائي چه اے زمونږ ربه! په تا مو قسم وي چه مونږ هرګز مشرکان نۀ وو

وقف لازم

وقف لازم

ع ۸

اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

وګوره | چه څنګه | دروغ يې وويل | په خپلو ځانونو باندې | او ورک شول | له دوی نه | هغه څه چه دوی به

وګوره څنګه دوی د خپل ځان په حقله دروغ وائي ، او هغه وخت به هغه ټول دروغ د دوی

يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ وَجَعَلْنَا

ئې دروغ تړل | او ځينې له دوی نه هغه دي | چه غوږ ايږدي | تاته | او موږ اچولي دي

نه ورک شول کوم چه به دوی جوړول او په دوی کښې ځينې داسې دي چه ستا خبرو ته غوږ نيسي او موږ

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۭ وَاِنْ

د دوی په زړونو باندې | پردې | چه پوهه نه شي دوی په هغې | او د دوی په غوږونو کښې | درونوالی دی | او که چرې

د هغوی په زړونو پردې اچولي دي چه په هيڅ نه پوهيږي او په غوږونو کښې ئې کونړوالی دی او که چرې

يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ

وګوري دوی | ټول معجزې | نو ايمان نه راوړي دوی په هغې باندې | تر دې چه | هر کله راشي دوی تاته | چه جګړې کوي تا سره

دوی ټولې نخښې وګوري بيا به هم ايمان نه راوړي تر دې چه هر کله تاله راځي نو جګړې در سره

يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَهُمْ

نو وائي به | هغه خلق چه | کافران دي | نه دی دا | مګر | قصې | د پخوانو خلقو | او دوی

کوي ، نو څوک چه کافران دي هغوی داوائي چه دا خو نور څه نه دي ترڅو پخوانئ قصې دي او هغوی

يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ

منع کوي (خلق) | د دۀ نه | او (خپله هم) لرې کيږي | د دۀ نه | او دوی نه هلاکوي | مګر صرف خپل ځانونه

د دې (حق دين) د منلو نه خلق منع کوي او پخپله هم ترې لرې ګرځي او په دې چل نور څوک نه، خو تش خپل ځانونه

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا

او | دوی نه پوهيږي | او که چرې ته ووينې | کله چه دوی ودرولې شي | په اور | نو دوی به ووائي

هلاکوي او په دې هم نه پوهيږي. او (اے نبي!) که چرې ته ، دوی هغه وخت ووينې کله چه دوی د جهنم په غاړه ودرولې

يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا وَنَكُوْنَ

اے کاش ! | چه موږ بيا واپس شو | او موږ دروغ ونه ګڼړو | آيتونه | د رب خپل | او موږ شو

شي نو دوی به وائي کاش! موږ واپس (دنيا ته) وليږلے شو نو د خپل رب نخښے به دروغ ونه ګڼړو او موږ به

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ ۭ

له مؤمنانو نه | نه بلکه | ښکاره شو | په هغوی باندې | څه چه دوی پټول | دوی ئې له دې نه

مؤمنانو نه شو . په حقيقت کښې د دوی مخ ته هغه څيز ښکاره شو کوم چه به دوی ورانې پټولو .

وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿٢٨﴾

او که چرې | دوی واپس ورکړې شي | نو ضرور به بيا هغه وکړي | د کوم نه چه منع کړے شوي وو | او بيشکه دوی | دروغژن دي .

او که دوی دنيا ته واپس هم کړے شي نو بيا به هم هغه کارونه کوي د کوم نه چه دوی منع کړے شوي وو او يقيناً دوی دروغژن دي

وَقَالُوْٓا اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿٢٩﴾

او وائي | نه دي (څه نور) | مګر | دا د دنيا ژوند زموږ | او نه يو موږ | را اوچت کړے شوي

او دوی وويل چه ژوند نشته خو صرف هم دا د دنيا ژوند دے او موږ به دوباره (د قيامت په ورځ) نه پيدا کيږو

وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ۭ قَالَ اَلَيْسَ هٰذَا

او کاش! | ته وګورې | هغه کله چه ودرولے شي | د خپل رب مخکښے | وبه فرمائي الله | آيا نه دی | دا

او کاش! چه ته وګورې کوم وخت چه دوی د خپل رب مخکښے ودرولے شي، الله تعالیٰ به وفرمائي آيا دا (ژوندون)

بِالْحَقِّ ۭ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ۭ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا

ريښتيا | دوی به ووائي | ولے نه | قسم دے په رب زموږ | هغه به وفرمائي | نو وڅکئ | دا عذاب | څکه چه

حق نه دے؟ وبه وائي ولے نه زموږ د رب قسم (حق دے) الله تعالیٰ به وفرمائي چه د خپل کفر (په سزا) کښے

كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَاۗءِ اللّٰهِ ۭ ع ٣/١٠

تاسو به انکار کولو | بيشکه په نقصان کښے پاتے شول | هغه خلق کوم چه | دروغ وګڼلو | ملاقات د الله

اوس د عذاب مزه وڅکئ، بيشکه هغه خلق په تاوان کښے پاتے شول چه خدائے سره د ملاقات خبره ئے دروغ

حَتّٰٓي اِذَا جَاۗءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰي مَا

تر دے چه | هغه کله راشي په دوی | قيامت | ناګهانه | دوی به وائي | افسوس دے | په دے چه

ګڼله، تر دے چه هغه کله په دوی باندې قيامت ناګهانه راشي نو وائي به چه هلئے افسوس دے موږ په دے

فَرَّطْنَا فِيْهَا ۙ وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ عَلٰي ظُهُوْرِهِمْ ۭ

موږ کوتاهي وکړه | په دے (باره) کښے | او دوی | به پورته کړي وي | خپل پيټي | په خپلو شاګانو

معامله کښے څومره کوتاهي کړے ده او د خپلو ګناهونو پيټي به ئے په خپلو شاګانو باندې بار کړے وي،

اَلَا سَاۗءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿٣١﴾ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّ

واورئ | بد دی | هغه څه چه دوی ئے پورته کوی | او نه دے | ژوند د دنيا | مګر | لوبه | او

واورئ! دوی به ډير خراب پيټي پورته کړے وي او د دنيا ژوند خو نور څه نه دے بس يوه لوبه تماشا

لَهْوٌ ۭ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٣٢﴾

مشغولا ده | او البته کور | د آخرت | ډير ښه دے | هغو خلقو له | چه پرهيزګاري کوي | آيا نه پوهيږئ

ده، البته د آخرت کور د هغه خلقو د پاره ډير ښه دے چه پرهيزګاره دي آيا تاسو عقل نه لرئ

قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ

بيشکه موږ پوهيږو | چه ضرور غمژن کوی تا | هغه څه چه | دوی وائي | پس بيشکه دوی | نه دروغژن کوی تا

(اے پيغمبره!) موږ ته ښه معلومه ده چه د دوی په خبرو ته غمژن کيږې ليکن په حقيقت کښے دوی تا دروغژن

وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ

بلکه (دا) ظالمان (خو) | د الله د آيتونو نه | انکار کوی | او بيشکه دروغژنه کړے شوي وو | نور پيغمبران (هم)

نه ګڼي بلکه دا ظالمان د الله تعالیٰ د آيتونو نه انکار کوی او بيشکه له تا نه وړاندې هم پيغمبران

مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰى مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰىٓ اَتٰىهُمْ

له تا نه وړاندې | پس هغوی صبر وکړو | په دروغ ګڼلو بلل کیدلو | او تکلیف ورکړے شو | ترڅو چه | ورسیده دوی ته

دروغ ګڼلے ګرځیدلے شوی وو خو په دروغ ګڼلو او په تکلیفونو باندې هغوی صبر وکړو، ترڅو چه زمونږ مدد

نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِی

زمونږ مدد | او نشته هیڅوک بدلوونکے | د الله خبرے | او بیشکه راغلی دی تاته | خبرونه

ورته ورسیدو او د الله تعالیٰ خبرے هیڅوک نه شی بدلولے، او د پخوانو پیغمبرانو څه حالات تاته راسیدلی

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٤﴾ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ

(د هغه) رسولانو | او که چرے وی | درونده | په تا باندې | د دوی مخ اړول | نو که چرته کولے شے

دی او (اے نبی) که د دے خلقو بے رخی برداشت کول نه شے، نو که وس دے رسی نو

اَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ

چه ولټوے ته | سوړے | په زمکه کښے | یا اندرپایه | په اسمان کښے | بیا ته راوړے دوی ته

په زمکه کښے چرته یو سورنګ ولټوه، یا اسمان ته یوه اندرپایه ولګوه او دوی له د یوے نخښے راوړ

بِاٰيَةٍ ۗ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى فَلَا تَكُوْنَنَّ

(څه) نخښه | او که چرے غوښتے الله | نو جمع کړی به ئے وو دوی | په هدایت باندې | پس مه کیږه ته

کوشش وکړه او که الله تعالیٰ غوښتے نو ټول به ئے په هدایت یو ځائے کړی وو، نو د ناپوهه خلقو په

مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ ۘ وَالْمَوْتٰى

له جاهلانو نه | بیشکه چه قبلوی | هغه خلق چه | اوری | او مړی

شان مه کیږه د حق تعلیم هغه څوک منی چه خبرے ته غوږ ایږدی. او (باقے شول) مړی

يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ

راپورته به کړی دوی | الله | بیا به هم د هغه طرف ته | واپس کړے شی | او دوی وائی | ولے نازله نه شوه | په ده باندې

نو هغوی خو به الله تعالیٰ د قبرونو نه راوچت کړی او هغه ته به پیش کړے شی. او دوی وائی چه ده ته ولے د الله تعالیٰ

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۗ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ

(څه) نخښه | د ده د رب له طرف نه | ووایه | بیشکه | الله | قادر دے | په دے | چه | نازله کړی

د طرف نه نخښه نه راځی. ته ووایه چه الله تعالیٰ د نخښے را کوزولو پوره پوره طاقت

اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ

نخښه | او لیکن | اکثر له دوی نه | نه پوهیږی | او نشته | (هیڅ) ځناور (تلونکے) | په زمکه کښے

لری خو اکثر خلق په دے نه پوهیږی. او د زمکے په مخ د ځناور نشته

وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ۗ مَا فَرَّطْنَا

او نه (څه) مارغه | چه الوزی | په خپلو دواړو وزرو | مګر ډلے جماعتونه دی | ستاسو په شان | مونږ کمے نه دے کړے

او نه (په هوا کښے) داسے مارغه شته چه په وزرو الوزی مګر دا ټول ستاسو غوندے (مخلوق) امتونه دی، مونږ د دے کتاب په

فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

په كتاب كښې | د هڅه خبره | بيا | به خپل رب ته | جمع كولے شي | او كوم چه | دروغژن كړي دي

نصيبه ليكلو كښې هيڅ كمے نه دے كړے او بيا به دا ټول خپل خدائے ته پيش كړے شي . او چا چه زمونږ ځانښې دروغ

بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ؕ مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ؕ وَمَنْ

زمونږ ايتونه | كاڼه دي | او ګونګيان دي | په تيارو كښې دي | څوك چه وغواړي الله | ګمراه ئے كړي | او څوك چه

وګڼړلے هغوي كاڼه او ګونګيان او په تيارو كښې پراته دي ، الله چه د چا په حقله وغواړي نو ګمراه ئے كړي او د چا په

يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٣٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ

وغواړي | كړي هغه | په نيغه لاره باندې | ووايه | ايا كتلي دي تاسو | كه چرې راشي تاسو ته

حقله چه وغواړي نو په سمه لاره ئے روان كړي . ووايه چه فكر وكړئ او بيا ووايئ چه كه په تاسو

عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ

عذاب د الله | يا راشي تاسو ته | قيامت | نو ايا د الله نه سوا | به بل څوك رابلئ | كه چرے تاسو

د الله عذاب راشي يا په تاسو قيامت راشي نو ايا تاسو به د الله تعالیٰ نه سوا بل چا ته اواز كوئ ؟ (ووايئ) كه تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٤٠﴾ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ

رښتوني يئ | نه بلكه | خاص هغه | به تاسو رابلئ | بيا هغه لرې كوي | هغه تكليف د كوم د پاره چه تاسو هغه رابلئ

رښتوني يئ ؟ نه بلكه هغه وخت تاسو يوازے خدائے ته اواز كوئ نو كه الله وغواړي نو هغه مصيبت به درنه لرے

اِنْ شَاۗءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ

كه چرې هغه وغواړي | او تاسو هيروئ | هغه څه چه | تاسو ئے شريكوئ | او بيشكه مونږ ليږلي ؤ (رسولان) | امتونو طرف ته

كړي ، او په دا سے موقع كښې خپل شريكان درنه هير شي . او مونږ تا نه وړاندې نورو قومونو ته پيغمبران

مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَاۗءِ وَالضَّرَّاۗءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٤٢﴾

له تا نه وړاندې | بيا مونږ ونيول دوي | په سختئ | او تكليف كښې | د پاره د دے چه دوي | عاجزي وكړي

ولیږل ، نو بيا مو هغوي په سختو او مصيبتونو كښې راونيول ، چه عاجزي شروع كړي .

فَلَوْلَآ اِذْ جَاۗءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ

بيا ولے ونه شو | كله چه | راغے دوي ته | زمونږ عذاب | نو عاجزي وكړه دوي | بلكه | سخت شول | د دوي زړونه

بيا چه كله زمونږ عذاب په دوي راغلو نو دوي زمونږ مخكښې ولے فرياد ونه كړو ، بلكه د دوي زړونه سخت پاتے شول

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوْا

او ښائسته كړل | دوي د پاره | شيطان | هغه (كارونه) | كوم چه دوي كول . | پس هر كله چه | هير كړل دوي

او شيطان دوي ته د دوي (خراب) عملونه ښائسته كړي ؤ ښودل . بيا هر كله چه دوي هغه نصيحت هير

مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ؕ حَتّٰٓى اِذَا

هغه څه چه نصيحت كړے شوے وو دوي ته په هغه سره | نو پرانستل مونږ | په دوي | دروازے | د هر څيز | تردے چه | هر كله

كړو كوم چه دوي ته شوے وو نو مونږ په دوي د هر څيز دروازے پرانستلے ، تردے چه دوي زمونږ

فَرِحُوا بِمَآ اُوْتُوٓا اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَقُطِعَ

دوی خوشحاله شول | هغه څه چه دوی ته ورکړے شول | نو مونږ ونیول دوی | ناګهانه | بیا دغه وخت دوی نا اُمیده شول | پس پریکړے شوه

په ورکړو باندې بنه خوشحاله شول نو مونږ دوی ناګهانه ونیول او دوی نا اُمیده پاتے شول، بیا د دے ظالمانو

دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٥﴾

جرړه د (دے) قوم | کومو چه | ظلم کړے وو | او ټوله ثنا | الله لره ده | (چه) رب دے د ټولو جهانونو

خلقو جرړه پریکړے شوه ، او ټول تعریف الله لره دے چه پروردګار د ټول مخلوق دے.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ

ته ووایه | څه خیال د تاسو | که چرے | واخلی | الله | اوریدل ستاسو | او سترګے ستاسو | او مهر د وهی

(اے پیغمبره!) ووایه چه تاسو چرے په دے خبره فکر کړے دے چه که الله تعالیٰ تاسو نه غوږ او سترګے واخلی

عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ ۗ اُنْظُرْ كَيْفَ

ستاسو په زړونو | نو څوک دے بل معبود | سوا د الله نه | چه درکړی تاسو ته | دغه څیزونه | وګوره | څنګه

او په زړونو د ستاسو مهر ولګوی نو د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک معبود شته چه دا څیزونه درله پسته درکړی ، ګوره مونږه

نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿٤٦﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ

مونږ بیا بیا بیانوو | ایتونه | بیا (هم) | دوی | مخ اړوی | ووایه | ایا کتلی دی تاسو

دوی ته څنګه خپل ایتونه بیا بیا بیانوو او دوی ترے نه بیا هم مخ اړوی ۔ درته ووایه چه تاسو چرے فکر کړے

اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا

که چرے راشی تاسو ته | عذاب | د الله | ناګهانه | یا په ښکاره | نو ایا | هلاک به شی څوک (نور) | سوا

دے که د الله تعالیٰ د طرف نه په تاسو باندې ناګهانه یا په ښکاره عذاب راشی، نو ایا د ظالمانو نه سوا نور خلق

الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ

د قوم | د ظالمانو نه | او نه رالیږو مونږ | رسول | مګر زیرے ورکوونکی | او ویروونکی

به پکښے هلاکیږی ؟ او مونږ خو پیغمبران په دے غرض لیږو چه نیکانو ته زیرے ورکړی او بدان وویروی

فَمَنْ اٰمَنَ وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٤٨﴾

پس څوک چه | ایمان راوړی | او اصلاح وکړی | نو نه به څه ویره وی | په دوی باندې | او نه | دوی | به غمژن وی

نو څوک چه د حق خبره ومنی او خپل عمل سم کړی نو په هغوی به نه ویره راځی او نه به چرے غمژن کیږی

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿٤٩﴾

او کوم خلق چه | دروغ وګنړل | ایتونه زمونږ | ورله رسیږی دوی ته | عذاب | څکه چه | دوی نافرمانی کوله

او څوک چه زمونږ ایتونه دروغژن وګنړی هغوی ته به د هغوی د نافرمانئ په وجه عذاب ورکولے شی ،

قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ

ووایه | نه وایم زه | تاسو ته | چه ما سره | خزانے دی | د الله | او نه | پوهیږم زه | په غیبو باندې

(اے پیغمبره!) درته ووایه چه زه درته دا نه وایم چه ما سره د الله خزانے دی او نه دا چه زه په غیبو باندې خبریم

وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّيْ مَلَكٌ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۚ

او نهٔ زهٔ وایم | تاسو ته | چه زهٔ فرښته یم | زهٔ تابعداري نهٔ کوم | مګر د هغه څه چه وحي کولے شي | ما ته

او نهٔ درته دا وایم چه زهٔ فرښته یم، زهٔ خو بس په هغه وحي پسے روان یم چه ما ته رالیږلے شي،

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۗ اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٥٠﴾

ووایه | ایا برابر دے | ړوند | او بینا | ایا تاسو فکر نهٔ کوئ ؟

ووایه چه ایا ړوند او بینا دواړه یو برابر کیدے شي؟ ایا تاسو دومره قدرے فکر هم نهٔ کوئ

وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ لَيْسَ

او ووېروه په دے قرآن سره | هغه خلق | چه وېرېږي | چه | جمع به کړے شي | خپل رب ته | نهٔ به وي

او هغه خلق د دے (قرآن) په ذریعه خبردار کړه کوم چه د دے خبرے نه وېرېږي چه دوی به د الله په وړاندے راجمع کولے شي،

لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٥١﴾

دوی د پاره | د الله نه سوا | (څوک) دوست | او نهٔ (څوک) شفاعت کوونکے | د پاره د دے چه دوی | پرهیزګاري وکړي

او د الله تعالیٰ نه سوا به د دوی دوست او سفارش کوونکے هیڅوک نهٔ وي، پکار دي چه دوی پرهیزګاره شي

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ

او مهٔ شړه | هغه خلق | چه بللی | خپل رب | صبا | او ماښام | غواړي

او هغه خلق د خپل ځان نه مهٔ لرے کوه چه سحر ماښام خپل رب یادوي او د هغهٔ رضامندي

وَجْهَهٗ ۗ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ

مخ د هغهٔ | نشته دے په تا بانډې | د دوی له حساب نه | څهٔ څیز | او نهٔ | ستا له حساب نه

غواړي، نهٔ د هغوی حساب ستا په ذمه دے، او نهٔ ستا حساب د هغوی

عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٢﴾ وَكَذٰلِكَ

په دوی بانډې | څهٔ څیز | چه ته دوی لرے کړے | پس شے به ته | له ظالمانو نه | او دغه شان

په ذمه دے، (داسے ګڼه شي چه) ته دوی لرے کړے او ته د نامناسبه کارکوونکو نه شے. دغه شان

فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

د ازمایل موږ | ځنے خلق | په ځنو بانډې | چه دوی ووائي | ایا هم دا دي | چه احسان کړے دے الله | په دوی بانډې

موږ دوی د یو بل په ذریعه په ازمیښت کښے اچولی دي چه دوی دا ووائي چه ښهٔ هغه دا خلق دي چه الله زموږ په

مِّنْ بَيْنِنَا ۗ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ وَاِذَا جَآءَكَ

په موږ کښو کښے | ایا نهٔ دے الله | ښهٔ پوهه | په شکرګذارو بانډې | او هر کله چه | راشي تا ته

مینځ کښے په دوی بانډې مهرباني کړے ده نو ایا الله په خپلو شکرګزارو بندګانو په ښهٔ شان نهٔ پوهیږي؟ (اے نبي!) کله چه تا ته

الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ

هغه خلق | چه ایمان لري | زموږ په ایتونو | نو ووایه | سلام (دے) | په تاسو بانډې | لازمه کړے ده | رب ستاسو

هغه خلق راشي چه زموږ ایتونه مني نو هغوی ته ووایه چه په تاسو سلام وي ستاسو رب په خپل ځان بانډې

عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ

پہ خپل ځان | مهربانی | داچه څوک | عمل وکړی | له تاسو نه | بد | په بې علمۍ کښې | بیا

رحم لازم کړے دے ، په تاسو کښې څوک چه په نادانۍ بد وکړی ، بیا وروستو توبه

تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾ وَكَذٰلِكَ

توبه وکړی | له دے نه پس | او عمل ښه کړی | نو بیشکه هغه | بخښونکے | مهربان دے | او هم دغه شان

ئے باسی ، او خپل عمل سم کړی نو الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے ۔ او دغه شان

ع ۶ ۱۲ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ قُلْ

مونږ په تفصیل سره بیانوو | آیتونه | او د پاره د دے چه ښکاره شی | لاره | د ظالمانو | ته ووایه

مونږ آیتونه په تفصیل سره بیانوو چه د مجرمانو لاره بالکل (جدا) ښکاره شی ورته ووایه

اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قُلْ

بیشکه زه منع کړے شوی یم | چه | زه عبادت وکړم | د هغو (کوم چه) | تاسو بلئ | د الله نه سوا | ووایه

چه زه د هغه معبودانو د عبادت نه منع کړے شوے یم کوم چه تاسو د الله تعالیٰ نه سوا بلئ ، ته ووایه

لَّآ اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا

زه پیروی نه کوم | ستاسو د خواهشاتو | بیشکه زه به ګمراه شم په دغه وخت کښے | او | نه به یم زه

چه زه به ستاسو په خواهشاتو باندے نه چلیږم که داسے وکړم نو ګمراه به شم او په سمه لاره به

مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ قُلْ اِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَ

له لاره موندونکو نه | ووایه | بیشکه زه | په دلیل باندے یم | د خپل رب له طرفه | او

پاتے نه شم ، ورته ووایه چه زه د الله تعالیٰ د طرف نه په واضح دلیل قایم ولاړ یم ، او

كَذَّبْتُمْ بِهٖ ؕ مَا عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا

او تاسو دروغ ګڼلو هغه | نشته دے ماسره | هغه څه چه په تادی ئے غواړئ تاسو | نه دے حکم | مګر

تاسو د هغے نه انکار کوئ او س د هغې (عذاب) اختیار زما په لاس کښے نه دے په کوم پسے چه تاسو تلوسه کوئ فیصله یوازے

لِلّٰهِ ؕ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِيْ

د الله دے | هغه بیانوی | حقه خبره | او هم هغه دے | د ټولو نه ښه | فیصله کوونکے | ووایه | که چرے | دے ماسره

د الله په لاس کښے ده هغه حقه خبره بیانوی او هغه غوره فیصله کوونکے دے ۔ ورته ووایه چه که هغه (عذاب)

مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِيَ الْاَمْرُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

هغه د کوم چه تاسو تادی کوئ | نو فیصله شوې به وه | معامله | زما او ستاسو تر مینځه | او الله | ښه پوهه دے

زما په لاس کښے وے په کوم پسے چه تاسو تلوسه کوئ نو زما او ستاسو تر مینځه به پخوا فیصله شوې وه او الله تعالیٰ ظالمان

بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ؕ

په ظالمانو | او هغه سره دی | ګنجیانے | د غیبو | چه نه پوهیږی په هغو څوک | سوا د هغه نه

ډیر ښه پیژنی ، او د غیب ګنجیانے خو هغه سره دی چه بے د هغه نه پرته بل هیڅوک خبر نه دے

وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا
او هغه پوهېږي | په هغه څه | چه په اوچه | او دریاب کښې دي | او نه | پرېوځي | څه پاڼه | مګر هغه پوهېږي په هغې
او د اوچې او د لوندې هر څيز ورته ښه معلوم دے او د اونې نه داسې پاڼه نه راپرېوځي چه هغه پرې خبر نه وي

وَلَا حَبَّةٍ فِيْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٥٩﴾
او نه څه دانه ده | په تيارو کښې | د زمکې | او نه څه لوند څيز | او نه څه اوچ | مګر (هغه) په روښانه کتاب کښې (موجود) دي
او د زمکې په تيارو کښې موجود څه دانه يا څه لوند يا اوچ څيز داسې نشته چه په روښانه کتاب (لوح محفوظ) کښې ليکلے موجود نه وي

وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ
او هم هغه دے (کوم چه) | قبض کوي ستاسو (روحونه) | د شپې | او پوهېږي | په هغه څه چه تاسو ئې کوئ | د ورځې
او الله هغه ذات دے چه تاسو د شپې (د خوب په صورت کښې) په قبضه کښې اخلي او د ورځې چه تاسو څه کوئ په هغې هم پوهه دے

ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ لِيُقْضٰٓى اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ
بيا هغه راپاڅوي تاسو | په هغې کښې | چه پوره کړے شي | وخت | مقرر | بيا د هغه طرف ته دے | ستاسو واپس تلل
بيا په صبا د دنيا کاروبار ته راپاڅوي د دې د پاره چه مقرره نيټه پوره شي، بيا تاسو ټول به الله تعالىٰ ته ترپستنه ځئ

ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ ع ۵ ۱۴
بيا به هغه ښائي تاسو ته | هغه څه چه تاسو به کول | او هغه دے | غالب | د پاسه | د بندګانو خپلو
نو هغه به درته وښائي چه تاسو څه کارونه کول. او هغه په خپلو بندګانو پوره پوره قدرت لري.

وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ۗ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ
او رالېږي | په تاسو باندې | نګرانان (فرښتې) | تردې چه | کله راشي | چاته په تاسو کښې | مرګ
او هغه په تاسو نګرانان (فرښتې) رالېږي، تردې چه په تاسو کښې د چا د مرګ وخت راشي نو زمونږ

تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ﴿٦١﴾ ثُمَّ رُدُّوْٓا
(نو) قبض کوي (د) هغه (روح) | زمونږ رالېږلي شوي (فرښتې) | او دوي | کوتاهي نه کوي | بيا | به دوي واپس کړے شي
رالېږلي (فرښتې) د هغه روح قبض کوي او هغوي (په خپل کار کښې) هيڅ کوتاهي نه کوي. بيا به دا ټول الله ته

اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ۗ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۣ وَهُوَ اَسْرَعُ
د الله طرف ته | چه د دوي مالک دے | په حقه خبر شئ | د هغه دے | حکم | او هغه دے | ډېر زر
پسته ستنه لاړ شي چه په حقه د دوي مولیٰ دے، خبر شئ چه حکم بس يوازې د هغه چلېږي او هغه په حساب اخستو

الْحٰسِبِيْنَ ﴿٦٢﴾ قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ
حساب اخستونکے | ووايه | څوک | خلاصے در کوي تاسو | له تيارو نه | د اوچې | او د درياب
کښې ډېر تيز دے. ورته ووايه چه څوک دے؟ چه د اوچې او سمندر په تورو تيارو کښې تاسو د خطر نه بچ کوي

تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ لَئِنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ
تاسو بلئ هغه | په عاجزئ | او په پټه | که چرې | هغه مونږ خلاص کړو | د دې (مصيبت) نه | نو خامخا به يو مونږ
چه تاسو ئې په عاجزئ سره او په پټه پټه بلئ. (او وائې چه) که چرې مونږ الله د دې (مصيبت) نه بچ کړو نو مونږ

مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ

له شکر کوونکو نه | ووایه | الله | خلاصے درکوی تاسو ته | له دے نه | او له هرے یوے سختئ نه

به ضرور د هغه شکرګزار یو، ته ووایه هم الله تعالیٰ تاسو د دے نه او د هر تکلیف نه خلاصوی، بیا (هم)

ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ

بیا (هم) تاسو شرک کوئ۔ | ووایه | هغه | قادر دے | په دے چه راولیږی هغه | په تاسو باندې

تاسو شرک کوئ۔ ورته ووایه چه هغه (الله تعالیٰ) په دے خبره باندې قادر دے چه په تاسو باندې

عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا

(څه) عذاب | ستاسو د پاسه نه | یا ستاسو د خپو د لاندې نه | یا جمع کړی تاسو | ټولی ټولی

د بره نه یا ستاسو د قدمونو د لاندې نه عذاب راولیږی، یا تاسو په فرقو کښے تقسیم کړی

وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ ۭ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ

او وڅکوی | له تاسو نه څینو ته | جنګ د څینو | وګوره | څنګه | بیا بیا بیانوو | ایتونه

او په تاسو د یو بل د لاسه د جګړے مزه وڅکوی، وګوره مونږ څنګه په بیل بیل شان خپلے نخښے بیانوو

لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۭ قُلْ لَّسْتُ

د پاره د دے چه دوی | پوهه شی | او دروغژن کړو | هغه | ستا قوم | او هغه حق دے | ووایه | زه نه یم

شاید چه دوی پرے پوهه شی۔ او ستا قوم (کفارو د مکے) دا قرآن دروغژن کړو حال دا دے چه دا رښتونے دے ووایه چه

عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ ۡ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٧﴾

په تاسو باندې | (څه) نګران | د پاره د هر خبر | (یو وخت) مقرر دے | او ډیر زر | به تاسو پوهه شئ

زه ستاسو ذمه وار خو نه یم۔ د هر خبر (د واقع کیدو) یو وخت مقرر دے او تاسو به ډیر زر پوهه شئ

وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى

او کله چه | تاسو ووینئ | هغه خلق | چه بحث کوی | زمونږ په ایتونو کښے | نو مخ واړوه | له دوی نه | ترڅو چه

او هر کله چه ته ووینے چه خلق زمونږ په ایتونو باندې نکته چینئ کوی نو د هغوی نه یو اړخ ته شه ترڅو چه (هغه

يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ۭ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ

دوی لګیا شی | په څه بله خبره کښے | او که چرے هیر کړی له تا نه | شیطان | نو مه کښینه

بحث پریږدی او) په بله خبره کښے مشغول شی، او که چرے شیطان درنه (دا نصیحت) هیر کړی (او ته په دوی کښے

بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ

پس د را یادیدو | د ظالمانو خلقو سره | او نشته دے | په هغو خلقو (چه) | ویریږی (د الله نه)

کښینے) نو یاد راتلو نه پس د دا سے ظالمانو سره مه کښینه، او کوم خلق چه پرهیزګاره دی په هغوی باندې

مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٦٩﴾

د هغو (جګړه کوونکو) له حساب نه | څه خیز | لیکن | (صرف) نصیحت کول | چه دوی | پرهیزګاره شی۔

د هغوی د حساب کتاب هیڅ ذمه واری نشته البته نصیحت کول د هغوی په ذمه دی چه شاید (دا ظالمان هم) د الله تعالیٰ

وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا

او پرېږده | هغه خلق | چه جوړ كړې دې | خپل دين | لوبه | او تماشه | او دوكه كړې ده دوى | ژوند د دنيا

نه دو پرېږدى ! او هغه خلق پرېږده چه د خپل دين نه ئے لوبه تماشا جوړه كړې ده او دوى د دنيا ژوند په دوكه كړي

وَذَكِّرْ بِهِ أَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا

او نصيحت وركوه | په دې (قرآن) سره | (د دې نه دى) چه هلاك شي څوك نفس | د خپلو كړو په بدله كښې | نشته دے | د هغه

غورزولى دي او د دے (قرآن) په ذريعه ورته نصيحت كوه چه څوك د عملونو په وبال كښې داسے گير نه شي چه بيا د الله

مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَا يُؤْخَذْ

د الله | نه سوا | (څوك) دوست | او نه څوك سفارشي | او كه چرے هغه ادا كړى | پوره پوره (تاوان) | نو وا به نه خستے شي

نه بغير بل هيڅوك ئے ملگرے يا سفارشي نه وي او كه هغه هر قسم له څيزونه په فديه كښې وركول غواړي نو قبليږي

مِنْهَا أُولَئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِنْ حَمِيمٍ

د هغه نه | هم دا دي هغه خلق چه | هلاك كړے شول | د خپلو خرابو كارونو په بدل كښې | دوى له څښل دي | له يشيدلو اوبو نه

به نه شي (حكم چه) دا خلق به د خپلو عملونو په سزا كښې گرفتار دي ، د هغه خلقو له به د انكار په وجه

وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ۝٧٠ قُلْ أَنَدْعُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ ع ١٠ ١٤

او عذاب (به وي) | دردناك | په وجه د دې چه | دوى كفر كولو | ووايه | آيا مونږ وبلو | د الله نه سوا

يشيدلې اوبه د څښلو د پاره او دردناك عذاب وركولے شي . (اے پيغمبره!) ووايه ، چه آيا مونږ الله پرېږدو او هغه

مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَانَا اللَّهُ

هغه چه نفع نه راكوي مونږ ته | او نه نقصان راكوي | او بيرته وگرځولے شو مونږ | په پوندو خپلو | پس له دې نه چه هدايت وكړو مونږ ته الله

معبود وبلو چه نه نفع راكولے شي او نه نقصان؟ او د دے نه پس چه الله مونږ ته سمه لار ښودلې ده شا طرف ته واپس لاړ شو

كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُ أَصْحَابٌ

په شان د هغه چا | چه بې لارې كړے وي هغه | شيطانانو | په زمكه كښې | حيرانه پاتے شوے | د هغه | ملگري دي

د هغه چا په شان چه شيطانان په ځنگل كښے بے لارے كړے وي او اريان دريان گرځي په داسے حال كښے چه

يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ

(چه) بلي هغه | سمے لارے طرف ته | چه راشه مونږ ته | ووايه | بيشكه | هدايت د الله | هدايت دے

ملگري ورته بلنه كوي چه زمونږ طرف ته راشه سمه لار دا ده ورته ووايه چه سمه لار هغه ده چه الله تعالى ئے ښائى

وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ۝٧١ وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَاتَّقُوهُ

او مونږ ته حكم شوے دے | چه فرمانبردار شو | د جهانونو د پروردگار | او دا چه | قايم كړو | مونځ | او ويره كوئ د هغه

او مونږ ته حكم شوے دے چه د ټول مخلوق د پروردگار حكم ومنو او دا چه تاسو مونځ كوئ او د الله تعالى نه ويره كوئ

وَهُوَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ۝٧٢ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَوٰتِ

او دے هغه ذات دے | چه د ده طرف ته | به تاسو جمع كولے شئ | او هم هغه دے | چا چه | پيدا كړل | آسمانونه

او هم هغه ته به ټول پيش كيږئ . او الله تعالى هغه ذات دے چه آسمانونه او زمكه ئے برحق

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۭ وَيَوْمَ يَقُوْلُ كُنْ فَيَكُوْنُ ڛ قَوْلُهُ الْحَقُّ ۭ وَلَهُ الْمُلْكُ

اوزمکه | په حق سره | او په کوم ورځ چه دی وائی | چه شه | نو هغه به شی | د ده خبره رښتيا ده | او د هغه حکومت دے

پيدا کړی دی او په کومه ورځ چه هغه دومره فرمائی (چه قيامت) پيدا شی نو وبه شی د هغه وينا حق ده او په کومه ورځ

يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ ۭ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۭ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

په کومه ورځ | چه پوک کړے شی | په شپيلئ کښے | هغه پوهه دے | (په نتو لو) پټو | او ښکاره خبرو | او هغه دے | خاوند د حکمت

چه شپيلئ پوک وهلے شی نو ټوله بادشاهی به هم د هغه وی، هغه په غيب او ښکاره هر څيز باندے عالم دے او هغه

الْخَبِيْرُ ۝73 وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ

خبردار | او کله چه | دوئيل | ابراهيم | خپل پلار | آزر ته | آيا ته نيسے | بتان | په خدائی

د حکمتونو خاوند او خبردار دے۔ او ياد کړه کله چه ابراهيم خپل پلار آزر ته ووئيل آيا ته بتان په خدائی نيسے۔ زه

اِنِّيْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝74 وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ

بيشکه زه وينم تا | او ستا قوم | په ګمراهئ ښکاره کښے | او دغه شان | موږ ښودلو | ابراهيم ته

خو وينم چه ته او ستا قوم په ښکاره ګمراهئ کښے پراته دی۔ او دغه شان موږ ابراهيم ته د آسمانونو او

مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ۝75 فَلَمَّا

حکومت | د آسمانونو | او زمکے | او چه هغه وی | له يقين کوونکو نه | بيا هر کله چه

د زمکے (د) بادشاهت (نظام) وښودو او دے له چه د يقين په خاوندانو کښے شامل شی ، نو هر کله

جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ

خوره شوه | په ده باندے | شپه | (نو) هغه وکتلو | يو ستورے | دوئے وئيل | دا | زما رب دے | بيا کله چه هغه غائب شو

چه شپه پرے راخوره شوه نو هغه يو ستورے وليدو نو دوئے وئيل چه زما رب دا دے نو چه هغه پريوتو نو

قَالَ لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ۝76 فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا

نو دوئے وئيل | زه نه خوښوم | پريوتونکی | بيا هر کله چه وليدلو | سپوږمئ | راختونکے | نو دوئے وئيل | دا

دوئے وئيل چه زه پريوتونکو سره مينه نه ساتم بيا چه ئے ځلنده سپوږمئ وليده نو دوئے وئيل چه زما رب دا

رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَىِٕنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ

زما رب دے | بيا هر کله چه | هغه پريوتله | نو دوئے وئيل | که چرے هدايت نه وے کړے ما ته | زما رب | نو شوے به وم زه

دے نو چه هغه پريوته نو دوئے وئيل چه که الله پاک زما سمه لار ونه ښائی ، نو زه به په ګمراهانو کښے

مِنَ الْقَوْمِ الضَّاۗلِّيْنَ ۝77 فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ

له ګمراهانو خلقو نه | بيا هر کله چه | هغه وکتلو | نمر | راختونکے | نو دوئے وئيل | دا زما رب دے

شمير شم - بيا چه ئے پرقنده نمر وليدلو نو دوئے وئيل چه زما رب دا دے ، دا په

هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْۗءٌ مِّمَّا

دا د ټولو نه لوئے دے | بيا هر کله چه | هغه (هم) غائب شو | نو دوئے وئيل | اے زما قومه! | زه خو بيزاره يم | له هغه څه نه

ټولو کښے لوئے دے ، خو هر کله چه هغه هم پريوتلو نو دوئے وئيل چه اے زما قومه! زه ستاسو د شرک نه

تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٨﴾ اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ

په شریکوی ئې تاسو | بیشکه ما خو وګرځولو | خپل مخ | هغه (ذات) طرف ته | چې پیدا کړی ئې دی اسمانونه

دیزاره یم ، ما خو خپل مخ هغه ذات ته وګرځولو چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړی دی ، زه

وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿٧٩﴾ وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ قَالَ

او زمکه | په دې حال کښې چې زه حنیف یم | او نه یم زه | له مشرکانو نه | او جګړه وکړه د ده سره | قوم د ده | ده ووئیل

یو طرف ته یم او زه د مشرکانو په ډلې کښې شامل نه یم ، او د هغه قوم ورسره جګړه شروع کړه هغه ورته

اَتُحَآجُّوْٓنِّیْ فِی اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ؕ وَلَآ اَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ

ایا تاسو جګړه کوئ ما سره | د الله په حقله | حال دا دې چې هغه ما ته هدایت کړې دې | او زه نه ویریږم | د هغه څه نه چې تاسو شریک نیسئ

ووئیل ایا تاسو ما سره د الله په باره کښې جګړه کوئ حالانکه هغه ما ته هدایت کړې دې او زه د هغه څیزونو نه نه ویریږم

بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ رَبِّیْ شَیْئًا ؕ وَسِعَ رَبِّیْ كُلَّ شَیْءٍ عِلْمًا ؕ

هغه سره | مګر دا چې وغواړی | زما رب | څه څیز | احاطه کړې ده | زما رب | هر | څیز باندې | په علم سره

کوم چې تاسو الله سره شریک نیسئ سوا د دې نه چې زما رب څه څیز وغواړی ، زما د رب علم هر څیز باندې خور دې

اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَكَیْفَ اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ

پس ایا نصیحت نه اخلئ | او څنګه | زه ووېریږم | له هغه چا نه چې شریک مقرر کړی تاسو | او نه ویریږئ تاسو

نو ایا تاسو سوچ نه کوئ ، او زه به څنګه ستاسو د جوړو کړو شریکانو نه ویریږم حال دا دې چې تاسو نه ویریږئ

اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ یُنَزِّلْ بِهٖ عَلَیْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ

له دې خبرې چې تاسو | شریک نیسئ | د الله سره | هغه | چې نه دې نازل کړې هغه د دې | په تاسو باندې | دلیل

چې د الله سره داسې څیزونه شریکوئ چې د هغې تاسو سره هیڅ سند نشته (دا د داسې چې)

فَاَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٨١﴾ اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

پس کوم فریق له دواړو نه | زیات حقدار دې | د امن | که چرې تاسو پوهیږئ | هغه خلق چې ایمان راوړی

په دواړو ډلو کښې څوک د امن زیات حقدار دې ، که تاسو پو هیږئ ، چا چې ایمان راوړې دې

وقف لازم

وَلَمْ یَلْبِسُوْٓا اِیْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ

او نه دې ملاو کړې دوی | خپل ایمان | بې انصافی سره | هم د دوی د پاره دې | امن | او هم دا دی

او خپل ایمان ئې د ظلم سره ګډ کړې نه دې ، هم هغوی په امن دی او هم هغوی په سمه لار

مُّهْتَدُوْنَ ﴿٨٢﴾ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَیْنٰهَآ اِبْرٰهِیْمَ عَلٰی قَوْمِهٖ ؕ نَرْفَعُ

په سمه لار باندې | او دا دې | زمونږ دلیل | (چې) مونږ ورکړې دې | ابراهیم ته | د ده د قوم خلاف | پورته کوو مونږ

روان دی ، او دا زمونږ هغه دلیل وو چې ابراهیم علیه السلام له مو د قوم په مقابله کښې ورکړې وو ، مونږ چې

ع ١٥ ٩

دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِیْمٌ عَلِیْمٌ ﴿٨٣﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ

درجې | د چا چې مونږ غواړو | بیشکه | ستا رب | خاوند د حکمت | پوهه دې | او ورکړو مونږ | هغه له

د چا په حقله وغواړو نو مرتبې ورله لوړې کړو بیشکه چې ستا رب د حکمت خاوند او په هر څه پوهه دې ، او مونږ هغه له اسحق ع

إِسْحٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا

اسحاق | او یعقوب | (چه) هر یو له | هدایت ورکړه مونږ | او نوح له (هم) | مونږ هدایت ورکړو
(نوښ نمسی) او یعقوب (غونډ نمسی) ورکړه او هر یو مو په سمه لار روان کړو (هغه لاره چه) پخوا مو نوح علیه السلام

مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَسُلَيْمٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ

له دې نه وړاندې | او د دوی له اولادونه | داؤد | او سلیمان | او ایوب | او یوسف
ته ښودلې وه او بیا د هغه په اولاد کښې مو داؤد سلیمان ایوب یوسف

وَمُوسٰى وَهٰرُونَ ۚ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ۝٨٤ وَزَكَرِيَّا

او موسیٰ | او هارون له (هم) | او دغه شان | مونږ بدله ورکوو | نیکی کوونکو ته | او زکریا
موسیٰ او هارون علیهم السلام ته ونښودله او نیکانو ته مونږ دغسې بدله ورکوو ، او زکریا

وَيَحْيٰى وَعِيسٰى وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِنَ الصّٰلِحِينَ ۝٨٥

او یحییٰ | او عیسیٰ | او الیاس له (هم) | چه دوی ټول | له نیکوکارانو نه دي
او یحییٰ او عیسیٰ او الیاس علیهم السلام ته مو ښودلې وه په دوی کښې هر یو نیک عمله وو ،

وَإِسْمٰعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا

او اسماعیل | او الیسع | او یونس | او لوط له (هم) | او هر یو له | مونږ فضیلت ورکړے وو
او اسمٰعیل او الیسع او یونس او لوط ته مو هدایت وکړو او په دوی کښې هر یو له مونږ د خپلې زمانې)

عَلَى الْعٰلَمِينَ ۝٨٦ وَمِنْ اٰبَائِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ ۚ

په جهان والو باندې | او د دوی پلارانو | او د دوی اولاد | او د دوی وروڼو نه (هم ځینو ته)
په نورو خلقو فضیلت ورکړو او د دوی ځینو پلارانو او ځینې اولاد او ځینې وروڼو له مو فضیلت ورکړو

وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ إِلٰى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ۝٨٧ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ

او غوره کړل مونږ دوی | او هدایت وکړو مونږ دوی ته | نیغې لارې طرف ته | دا دے | هدایت | د الله
او مونږ دوی غوره کړل او دوی ته مو د نیغې لارې هدایت وکړو ، دا د الله تعالیٰ هدایت دے

يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُمْ

سمه لار ښائی په دې سره | چا ته چه غواړی | له خپلو بندګانو نه | او که چیرې دې خلقو شرک کړے | نو خامخا ضائع شوي به وو له دوی نه
چه په خپلو بندګانو کښې چا له ئې خوښه وی هغه له ئې ورکوی ، خو که دے خلقو (بالفرض) شرک کړے وے نو

مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝٨٨ أُولٰئِكَ الَّذِينَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ

هغه چه دوی کول | دا هغه خلق دی | کوم ته چه | مونږ ورکړے وو | کتاب | او حکومت | او نبوت
ټول عملونه به ئې عبث تلی وو . دا هغه خلق دی چه مونږ ورته کتاب او حکمت او نبوت ورکړے وو . نو

فَإِنْ يَكْفُرْ بِهَا هٰؤُلَاءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَيْسُوا بِهَا

پس که چیرې | انکار وکړی | د دې (شیزونو) نه | دا خلق | نو مونږ مقرر کړی دی | په دوی | هغه خلق | چه نه دی د دے
که اوس دا خلق ترے نه انکار وکړی ، نو مونږ دا نعمت داسې خلقو ته سپارلے دے چه په خپله هغوی

بِكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ؕ قُلْ

انکارکوونکی | هم داخلق دی | کوم تهٔ چه | هدایت کړے وو | الله | نو د دوی په لاره | چلیږه | دوایه

ترے نهٔ منکرنهٔ دی، دا هغه خلق وو چا تهٔ چه الله تعالیٰ هدایت کړے وو نو تهٔ هم د هغوی په لاره ځه تهٔ دوایه

لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٠﴾ ١٠ ع ٨ ١٢

نهٔ غواړم زهٔ له تاسو | په دے باندے | (څهٔ) اجر | دا نهٔ دے | مګر صرف | نصیحت | د جهان د خلقو د پاره

چه زهٔ (د تبلیغ) په دے کار تاسو نه اجر نهٔ غواړم، دا د ټولے دنیا خلقو ته یو عام نصیحت دے۔

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ

او قدر ونهٔ کړو دوی د الله | (لکه چه) حق دے د ده د قدر (دانی) | کله چه دوی ووئیل | نهٔ دے نازل کړے | الله | په (چا) انسان

او دوی د الله (د انعام) قدر ونهٔ کړو لکه څنګه چه د هغهٔ حق دے هر کله چه دوی ووئیل چه الله تعالیٰ په چا بشر باندے څهٔ

مِّنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا

څهٔ شے | دوایه | چا | را لیږلے وو | هغه کتاب | چه | را وړے وو هغه | موسیٰ | رڼړا

نهٔ دی نازل کړی، تهٔ دوایه چه چا هغه کتاب (تورات) نازل کړے وو چه موسیٰ علیه السلام راوړے وو، څو لو خلقو

وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ

او هدایت | خلقو د پاره | چه جوړوئ تاسو هغه | پاڼړے پاڼړے | تاسو ښکاره کوئ هغه (څه ناڅه) | او تاسو پټوئ

له رڼړا او هدایت وو کوم چه تاسو بیلو بیلو صفو باندے لیکلے دے (لیږ) څهٔ پکښے ښکاره کوئ او ډیر څهٔ پکښے

كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ

ډیره (حصه) | او زده کړے شوی د تاسو | په څهٔ | چه نهٔ پوهیدئ | تاسو | او نهٔ ستاسو پلار نیکهٔ | دوایه

پټ ساتئ (او د دے کتاب په ذریعه) تاسو ته هغه خبرے معلومے شوے چه نهٔ تاسو او نهٔ ستاسو پلارانو نیکونو ته معلومے وے

اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩١﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ

الله (را لیږلے دی) | بیا پریږده دوی | په (فضول) شغل د دوی کښے | چه دوی لوبے کوی | او دا (قرآن هم) | یو کتاب دے

دوایه چه هغه الله نازل کړے وو، بیا دوی پریږده چه په خپل فضول بحث کښے مشغول وی او دا (قرآن) مبارک کتاب دے

اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى

چه نازل کړے دے موږ | ډیر برکت والا | تصدیق کوونکے | د هغو چه | له ده نه وړاندے وو | او د پاره د دے چه ته وویرے | د مکے خلق

کوم چه موږ نازل کړے او د هغه کتابونو تصدیق کوی چه د ده نه وړاندے وو او د دے د پاره را غلے دے چه ته د مکے والا

وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ

او کوم چه چاپیره د دے دی | او هغه خلق | چه یقین لری | په آخرت | او ایمان راوړی | په دے (کتاب)

او د څواوشا خلق وویرو ے، او څوک چه په آخرت باندے باور لری، هغوی په دے کتاب هم ایمان راوړی

وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

او دوی | د خپل مونځ | حفاظت کوی | او څوک | زیات ظالم دے | د هغه چا نه | چه وګړی تړل

او د خپلو مونځونو ډیر خیال ساتی، او د هغه چا نه لوئے ظالم څوک کیدے شی چه په الله تعالیٰ

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ

په الله باندې | دروغ | یا وائي | وحي شوې ده ماته | او نه ده وحي شوې | هغه ته | د هغه څخه | او چا چه وویل

باندې دروغ وتړي یا دا ووائي چه ماته وحي راغلې ده او (په حقیقت کښې) هیڅ وحي ورته راغلې نه وي او څوک چه دا

سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ۭ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ

زر ده چه زه به نازل کړم | لکه څنګه چه | نازل کړو | الله | او که ووینې ته | هغه وخت چه ظالمان وي | په سختو

ووائي چه زه به هم د هغه په شان کتاب رانازل کړم کاش! چه ته هغه وخت وګورې چه دا ظالمان به د مرګ په

الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۭ اَلْيَوْمَ

د مرګ کښې | او فرښتې به | راخوروي | خپل لاسونه | (چه) را وباسئ | د خپلو ځانونو | نن ورځ

سختو کښې اخته وي او فرښتو ورته لاسونه دراوږده کړي وي (ورته وائي) چه خپل روحونه راوباسئ، نن به

تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ

به تاسو ته درکولے شي | عذاب | د ذلت | په سبب د دې چه تاسو به وئيل | په الله باندې | ناحق

تاسو ته سپکوونکے عذاب درکیدے شي، ځکه چه تاسو به په الله تعالیٰ باندې دروغ تړل۔

وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ۝ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى

او تاسو به | د هغه د آیتونو نه | غرور به کولو | او بیشکه تاسو راغلي وئ مونږ ته | یوازې

او تاسو د هغه د نخښو په مقابله کښې سرکشي کوله۔ (او س) تاسو مونږ ته داسې یوازې راغلي یئ

كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ

لکه څنګه چه مونږ پیدا کړي وئ تاسو | په اول ځل | او تاسو پریښودل | هغه څه | چه درکړي وو مونږ تاسو ته

لکه څنګه چه مونږ تاسو په اول ځل (یوازې) پیدا کړي وئ او مونږ چه تاسو له څه درکړي وو هغه مو وروستو

وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ

له ورستو د شاګانو خپلو نه | او نه وینو مونږ | تاسو سره | ستاسو سفارشیان | هغه چه ګمان به کولو تاسو | چه دوی

پریښودل، او مونږ (نن) تاسو سره هغه سفارشیان نه ګورو چه ستاسو په خیال کښې ستاسو په

فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ۭ لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا

ستاسو تر مینځه | (د الله) شریکان دي | بیشکه پریکړې شو | ستاسو په مینځ کښې (تعلق) | او ورک شول | له تاسو نه | هغه څه

معامله کښې (زمونږ) شریکان دي یقیناً ستاسو په خپل مینځ کښې رشتې ختمې شوې او کومې کومې دعوې چه مو

كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ۭ يُخْرِجُ الْحَيَّ

ع ١١ / ١٧

چه تاسو به ئے ګمان کولو | بیشکه | الله | څیرونکے دے | د دانې | او زړي | هغه راوباسي | ژوندے

کولې هغه ټولې درنه هیرې شوې۔ بیشکه الله د دانې او د زړي (د زرغونېدو د پاره) څیرونکے دے هغه د مړي

مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۭ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝

له مړي نه | او راویستونکے دے | مړے | له ژوندي نه | دا دے ستاسو | الله | نو کوم خوا | تاسو اړولې روان یئ

نه ژوندے راوباسي او د ژوندي نه مړے راوباسي هم دا ستاسو خدائے دے نو تاسو کوم خوا اړولې روان یئ

فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ

چوونکے دے | دَ صبا | او جوړ کړه هغه | شپه | وخت دَ ارام | او نمر | او سپوږمئ | (ذریعه دَ) حساب

هغه دَ صبا را ایستونکے دے ، هغه شپه دَ ارام دَ پاره ، او نمر او سپوږمئ ئے دَ حساب دَ پاره پیدا کړل

ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٩٦﴾ وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ

دا دَه | اندازه | دَ لوئے زبردست | پوهه | او هغه دے چا چه | جوړ کړل | تاسو دَ پاره | ستوری

دا دَ هغه ذات مقرر کړے (نظام) دے چه غالب او پوهه دے او الله تعالیٰ هغه ذات دے چا چه تاسو دَ پاره ستوری جوړ کړل

لِتَهْتَدُوْا بِهَا فِیْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰیٰتِ

چه تاسو لاره بیا مومئ | په هغه سره | په تیارو کښے | دَ اُوچه | او دریاب | بیشکه په تفصیل سره بیان کړی دی مونږ | ایتونه

چه دَ اُوچے او دَ سمندر په تیارو کښے پرے لار بیا مومئ ، یقیناً مونږ علم لرونکو دَ پاره نخښے په

لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ ﴿٩٧﴾ وَهُوَ الَّذِیْۤ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ

هغه قوم دَ پاره | چه پوهیږی | او هم هغه دے | چا چه | پیدا کړی ئے تاسو | له یو کس (ادمؑ) نه

تفصیل سره بیان کړی دی . او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ټول ئے دَ یو نفس نه پیدا کړی . بیا

فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ

بیا دیو غوږ دَ استوګنے ځائے دے | او یو دَ امانت ځائے دے | بیشکه په تفصیل سره بیان کړل مونږ | ایتونه | هغه قوم دَ پاره

بیا یو دَ استوګنے ځائے دے او یو دَ سپارلو ځائے . مونږ پوهه خلقو ته ټولے نخښے څرګندے بیان کړی

یَّفْقَهُوْنَ ﴿٩٨﴾ وَهُوَ الَّذِیْۤ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ

چه پوهیږی | او هم هغه دے | چا چه | را ولیږلے | له اسمان نه | اُوبه | پس را وویستلو مونږ | په دے سره

دی . او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه دَ اسمان دَ غاړے نه ئے اُوبه را ورولے دی نو دَ هغے په ذریعه

نَبَاتَ كُلِّ شَیْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ

بوټے | دَ هر قسم | بیا را وویستلو مونږ | دَ هغے نه | شینکے | چه را باسو مونږ | دَ هغے نه | دانے | یو بل پورے انښتے

مونږ هر قسم شینکے را وټوکولو نو په هغے کښے مو شنه بناخونه پیدا کړل چه په هغے کښے مو یو په بل سورے دانے پیدا کړے

وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِیَةٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّالزَّیْتُوْنَ

او دَ کجورو دَ اُونو نه | له بناخونو دَ هغے نه | دَ غونچکو | ځوړند ونه | او باغونه | دَ انګورو | او خوَن

او دَ کجورو دَ غونچکو نه ځوړند و غونچکونه او دَ انګورو او دَ خوَن او

وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَّغَیْرَ مُتَشَابِهٍ ۗ اُنْظُرُوْۤا اِلٰی ثَمَرِهٖۤ اِذَاۤ اَثْمَرَ

او دَ انارو | دَ یو بل په شان | او دَ یو بل نه جدا | وګورئ | دَ دے میوو ته | کله چه میوه ونیسی

دَ انارو باغونه چه څه دَ یو بل په شان وی او څه دَ یو بل نه جدا وی ، دَ (دوی) میوے ته خو وګورئ هر کله چه ګوټکی او

وَیَنْعِهٖ ۗ اِنَّ فِیْ ذٰلِكُمْ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُوْا

او دَ هغے پخیدل (طرف ته) | بیشکه | په دے کښے | نخښے دی | دَ هغه قوم دَ پاره | چه ایمان راوړی | او دوی ګرځولی دی

هر کله چه پخه شی ، په دے څیزونو کښے دَ مؤمنانو دَ پاره (دَ قدرت) بنکاره نخښے پرتے دی . او دوی خدائے پاک

١٢ ع ٦ ١٨

لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۢ

الله سره | شریکان | پیریان نو لره | او حال دا چه الله پیدا کړی دی دوی | او جوړ کړی دی دوی | هغه دپاره | ځامن | او لونړه

له پیریان شریک کړځولی دی او حال دا چه (دوی هم) الله پیدا کړی دی او دوی الله تعالی له بغیره پوهې نه ځامن او

بِغَيْرِ عِلْمٍؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيْعُ

په بې علمئ سره | هغه پاک دے | او ډیر اوچت دے | د هغه څه نه | چه دوی ئې بیانوی | پیدا کوونکے دے

لونړه جوړ کړی دی الله تعالی پاک دے او د هغو خبرو نه اوچت دے چه دوی ئې بیانوی . د اسمانونو او

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِؕ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌؕ

د اسمانونو | او د زمکے | څنګه کیدے شی | د هغه | ځوئے | حال دا دے چه نشته دے د هغه | ښځه

د زمکے پیدا کوونکے دے ، د هغه ځوئے څنګه کیدے شی ، هرکله چه د هغه ښځه نشته

وَخَلَقَ كُلَّ شَیْءٍۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٠١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْۚ

او پیدا کړو هغه | هر څیز | او هم هغه | په هر څیز | پوهه دے | هم دا دے الله | ستاسو رب

او هغه هر څیز پیدا کړے دے او په هر څیز ښه پوهه دے . هم دا الله دے چه ستاسو پالونکے دے

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَۚ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ فَاعْبُدُوْهُۚ وَهُوَ

نشته دے څوک معبود | سوا د هغه نه | پیدا کوونکے دے | د هر څیز | پس هم د هغه عبادت کوئ | او هغه

بې د هغه نه بل معبود نشته ، د هر څیز پیدا کوونکے دے (یوازے) د هغه عبادت کوئ ، او هغه

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿١٠٢﴾ لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ؗ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَۚ

د هر څیز | کارساز دے | نه شی موندلے هغه لره | سترګے | او هغه | مومی | سترګو لره

د هر څیز کارساز دے . څوک ئې په سترګو نه شی لیدلے او هغه ټولے سترګے لیدے شی ،

وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٠٣﴾ قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْۚ

او هغه دے | باریک بین | خبردار | بیشکه راغلی دی تاسو ته | دلیلونه | ستاسو د رب له طرف نه

او هغه باریک بین خبردار دے ، تاسو ته د خپل رب د طرف نه دلیلونه راغلی دی ،

فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖۚ وَمَنْ عَمِیَ فَعَلَيْهَاؕ وَمَاۤ اَنَا عَلَيْكُمْ

نو څوک | چه ئې ووینی | پس ځان د پاره | او څوک چه ړوند پاتے شو | نو هم په هغه دے (تاوان) | او نه ئی زه | په تاسو باندې

نو څوک چه ئې ووینی نو فائده ئې ځان له ده او څوک چه خپل ځان ړوند کړی نو تاوان ئې د خپل ځان دے او زه (نبی) ستاسو

بِحَفِيْظٍ ﴿١٠٤﴾ وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ

نګهبان | او دغه شان | بیا بیا بیانوو مونږ | آیتونه | او د دې د پاره چه ووائی هغه (منکران) | لوستلی دی تا

نګهبان نه یم او دغه شان مونږ خپلے نخښے بیا بیا بیانوو او دې د پاره چه دوی ووائی چه تا (چرته د چانه) لوستلی

وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿١٠٥﴾ اِتَّبِعْ مَاۤ اُوْحِیَ اِلَيْكَ

او چه مونږ ښه واضحه کړو دا | په پوهیدونکو د پاره | پیروی وکړه | د هغه څه | چه وحی ئې شوې ده | تا ته

دی او څوک چه پوهه دی هغوی ته حقیقت ښه ښکاره کړو . ته په هغه وحی پسے ځه چه خپل رب درته

مِن رَّبِّكَ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٦﴾

ستا د رب له طرف نه | نشته دے (څوک) معبود | سوا د هغهٔ | او مخ وګرځوه | له مشرکانو نه

راليږلے دے ، بې د هغهٔ نه بل خدائے نشته او د مشرکانو پرواه مه کوه ـ

وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ مَآ أَشْرَكُوا ۗ وَمَا جَعَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ

او که چرې غوښتلے وے الله | نو دوی به شرک نه وُو کړے | او نهٔ يُو جوړ کړے مونږ ته | په دوی باندې | نګران

او که چرې الله تعالىٰ غوښتلے نو دوی به شرک نه وُو کړے او مونږ ته په دوی محافظ مقرر کړے نهٔ يې

وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٧﴾ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ

او نهٔ يې ته | په دوی | ذمه وار | او کنځل مه کوئ | هغوته د کوم چه | مشرکان عبادت کوی

او نهٔ ته د دوی ذمه وار يې ـ او (اے مسلمانانو!) هغې معبودانو ته کنځل مه کوئ چه دوی ئے د

مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ كَذَٰلِكَ

د الله نه سوا | پس دوی به کنځل وکړی | الله ته | په زياتی سره | بې له علم نه | دغه شان

خدائے نه سوا عبادت کوی ، ځکه چه دوی به د دښمنۍ په وجه په ناپوهۍ کښې الله ته کنځل وکړی ؛ دغسې خو

زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ

ښائسته کړے دے مونږ | هر يو يو ډلے د پاره | د دوی عمل | بيا | د خپل رب طرف ته | دوی له واپس تلل دی

مونږ هر يو امت ته خپل خپل عمل ښائسته ښکاره کړے دے ، بيا به دا ټول خدائے ته پيش کيږی

فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٠٨﴾ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ

پس هغه به دوی ته ونښائی | څهٔ چه دوی کول | او دوی قسمونه وخوړل | په الله | ډاډه | قسمونه

نو هغه به ورته خبر ورکړی چه دوی څهٔ څهٔ کارونه کول ـ او دوی په الله تعالىٰ باندې ټينګ ټينګ قسمونه وخوړل

لَئِن جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا الْءَايَٰتُ

که چرې | راشی دوی ته | (څهٔ) نخښه | خامخا به ايمان راوړی دوی په هغې | ووايه | چه دا ے نخښے (معجزے)

چه که دوی ته (خدائی) نخښه راغله نو دوی به پرې خامخا ايمان راوړی ـ (اے پيغمبره! دوی ته) ووايه چه

عِندَ اللَّهِ ۖ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾

(خو) د الله سره دی | او تاسو ته څهٔ معلومه ده | چه هغه (نخښے) | هر کله راشی | (بيا به هم) دوی ايمان نهٔ راوړی

ټولے نخښے الله تعالىٰ سره دی او تاسو ته څهٔ معلومه ده که چرې هغه نخښے راهم شی نو هم دوی ايمان نهٔ راوړی

وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِۦٓ

او مونږ به واړوو | د دوی زړونه | او د دوی سترګے | لکه چه | دوی ايمان نهٔ وو راوړے په هغې

او مونږ به د دوی زړونه او د دوی سترګے (د حق نه) بدلے کړو لکه ځنګه چه دوی په دے (قرآن) کښے

أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾ ع ١٣ ١٠ ١٩

په اول | ځل | او مونږ به پريږدو دوی | د دوی په سرکشۍ کښے | سرګردانه

نخښے) اول ځل ايمان راوړے نهٔ دے ، او په خپله سرکشۍ کښے به ئے اريان دريان پريږدو ـ

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ډاکټر محمد دین

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَحَشَرْنَا

اوكه چيرې مونږ | راليږلى | دوى ته | فرښتې | او كلام كړے وې دوى سره | مړو | او جمع كړې وې مونږ

اوكه مونږ په دوى فرښتې هم نازلې كړې وې، او مړو ورسره خبرې هم كړې وې او مونږ (د دنيا)

عَلَيْهِمْ كُلَّ شَىْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ

په دوى باندې | هر څيز | مخې ته | (نو بيا هم) دوى داسې نه وو | چه ايمان ئې راوړے وې | مګر (دا) | چه الله تعالىٰ غوښتې

ټول څيزونه د دوى مخې ته راجمع كړى وے، بيا هم دوى ايمان نه راوړونكى وو، مګر چه الله غوښتې (نو بله خبره ده)

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِىٍّ عَدُوًّا

ليكن | اكثر له دوى نه | جاهلان دى | او دغه شان | مونږ جوړ كړل | هر نبى د پاره | دښمنان

ليكن په دوى كښې اكثر خلق د ناپوهئ خبرې كوى. او دغه رنګ مونږ د هر نبى دښمنان شيطانان پيدا كړى

شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ يُوْحِىْ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ

چه شيطانان دى | له انسانانو | او له پيريانو نه | چه (غوږ د نو كښې) اچوى | ځينې له دوى نه | ځينو ته

دى كوم چه انسانان او پيريان وو دوى د دوكے وركولو د پاره د يو بل په زړونو كښې د دروغو

زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُوْرًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ

دروغ خبرې | دوكے د پاره | اوكه چيرې غوښتلے | ستا رب | دوى به دا كار نه وو كړے | پس پرېږده دوى

خوږې ښكلې خبرې اچوى، اوكه چيرې ستا رب غوښتلے نو دوى به دا كار نه شو كولے نو دوى او

وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَلِتَصْغٰىٓ اِلَيْهِ اَفْـِٕدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

او كوم چه | دوى دروغ تړى | او چه مائله شى | دې (دروغو) طرفته | زړونه | د هغو خلقو | چه يقين نه لرى

كوم چه دوى دروغ تړى (په خپل حال) پرېږده. د دې خلقو (د اخبرې كوى) چه كوم خلق په اخرت باندې يقين نه لرى د هغوى

بِالْاٰخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ

په اخرت | او د پاره د دې چه دا خوښ كړى هغه | او چه دوى وكړى | هغه خراب كارونه چه دوى ئې كوى | پس ايا د الله نه سوا

زړونه د دې طرف ته مائله شى او هغوى دا خبرې خوښې كړى او كوم خراب عملونه چه دوى كوى په هغه كښې لګيا وى. (ای پیغمبره!

اَبْتَغِىْ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِىْٓ اَنْزَلَ اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا ؕ

زه ولټوم | فيصله كوونكے | او دے هغه ذات دے | چه نازل ئې كړو | ستا طرف ته | (دا) كتاب | واضح كړے شوے

دوى ته ووايه) چه ايا زه د الله تعالىٰ نه سوا څوك بل حاكم ولټوم حالانكه هم هغه دے كوم چه تاسو طرف ته يو كتاب نازل

وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ

او كوم خلق چه | مونږ وركړے دے | كتاب | هغوى پوهيږى | چه هغه | نازل كړے شوے دے | ستا د رب د طرفه

كړو كوم چه واضح دے او هغه خلق كوم ته چه مونږ كتاب وركړے دے هغوى پوهيږى چه دا قرآن ستا د رب د طرف نه په حق

بِالْحَقِّ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ

رښتونے | پس ته مه كيږه | له شك كوونكو نه | او پوره شوه | خبره | ستا د رب

سره نازل شوے دے نو ته په شكمنو خلقو كښې مه شامليږه. او ستا د رب خبره د رښتينوالى او د

صِدْقًا وَّعَدْلًا ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١١٥﴾

په رښتیا | او انصاف کښې | نشته دي څوک بدلونکي | د هغه د خبرو | او هغه دے | اوریدونکے | پوهه

انصاف په اعتبار سره کامله ده، هیڅوک د هغه حکمونه بدلولے نه شي او هغه هر څه اوري او په هر څه پوهه دے

وَاِنْ تُطِعْ اَكْثَرَ مَنْ فِى الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ

او که چرې ته خبره ومنې | د اکثرو | له هغو نه چه په زمکه کښې دي | نو دوی به ګمراه کړي تا | د الله د لارے نه

او که چرې ته د دُنیا د اکثرو خلقو خبرے ومنې نو دا خلق به تا د الله تعالیٰ د لارے نه ګمراه کړي۔

اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿١١٦﴾ اِنَّ رَبَّكَ

پیروي نه کوي دوی | مګر د ګمان | او نه دي دوی | مګر صرف خیالي خبرے کوي | بیشکه ستا رب

دوئ خو محض په ګمانونو پسے روان دي او صرف خیالي خبرے کوي ، په حقیقت کښے ستا رب ډیر

هُوَ اَعْلَمُ مَنْ يَّضِلُّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿١١٧﴾

ښه پوهه دے | (چه) څوک لرے کیږي | د هغه د لارے نه | او هغه | ښه پوهه دے | په سمه لار تلونکو باندې

ښه پوهه دے چه څوک د سمے لارے نه بے لارے دے او ښه پوهه دے چه څوک په سمه لار روان دے

فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ

پس تاسو خورئ | له هغه څه نه | چه اخستے شوی | نامه د الله | په هغے | که چرے یئ تاسو | د هغه په ایتونو باندې

نو د هغه څاروو غوښه خورئ په کوم چه (د ذبح په وخت) د الله تعالیٰ نوم یاد شوے وي که تاسو د هغه په

مُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ

ایمان لرونکی | او څه (وجه) ده | چه تاسو نه خورئ | له هغه څه نه | چه یاد شوی وی نامه د الله په هغے

حکمونو ایمان لرئ ۔ اخر څه وجه ده چه تاسو د هغے څاروی غوښه نه خورئ په کوم چه د الله نوم یاد شوے

وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ

حالانکه هغه واضحه کړے ده | تاسو ته | کوم چه | هغه حرام کړل | په تاسو باندې | مګر صرف هغه | چه تاسو مجبوره شئ

دي ، حال دا چه الله تعالیٰ در باندې څه حرام کړي دي هغه ئے په تفصیل سره بیان کړي دي ، مګر که تاسو ورته

اِلَيْهِ ۗ وَاِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ

هغے ته | او بیشکه | ډیر خلق | بے لارے کوي خلق | په خواهش د نفس خپل | بے له پوهے نه

(د لوږے نه) مجبوره شئ (نو هیڅ حرج نشته) او بیشکه ډیر خلق د خپلو نفساني خواهشاتو په وجه بغیر د علم نه خلق ګمراه

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِيْنَ ﴿١١٩﴾ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَبَاطِنَهٗ ۚ

بیشکه | رب ستا | ښه پوهه دے | حد نه په تیریدونکو باندې | او پریږدئ | ښکاره | ګناه | او پټه د هغے

کوي ۔ بیشکه الله د حد نه وړاندې تیریدونکي ډیر ښه پیژني ۔ او ښکاره او پټ هر قسم ګناهونه پریږدئ

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا

بیشکه | کوم خلق چه | کوي | ګناه | ډیر زر به دوی ته بدله ورکړے شي | د هغے کوم چه ...

یقیناً کوم خلق چه ګناهونه کوي ، ډیر زر به هغوی ته د هغوی د بدو عملونو

يَقْتَرِفُوْنَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ
دوی کول | او تاسو مه خورئ | له هغه څخه نه | چه نه وی یاد شوے | نوم د الله | په هغې باندې
سزا ملاویږی ۔ او د هغې حلالے نه (غوښه) مه خورئ چه د الله تعالیٰ نوم پرے یاد شوے نه وی

وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ ؕ وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى اَوْلِيٰٓـِٕهِمْ
او بیشکه هغه (خوړل) | ګناه ده | او بیشکه | شیطانان | (خو) اچوی (په غوږونو کښې) | د خپلو دوستانو
او دا د ګناه کار دے او بیشکه شیطان د خپلو دوستانو په زړونو کښې وسوسے اچوی ، چه

لِيُجَادِلُوْكُمْ ۚ وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ ﴿١٢١﴾
چه دوی تاسره جګړے کوی | او که چرے | تاسو د دوی خبره ومنئ | نو بیشکه تاسو | په مشرکان یئ ۔
تاسو سره جګړے وکړی او که تاسو هم د هغوی اطاعت وکړو نو یقیناً مشرکان به شئ ۔

اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ
ایا څوک چه وو | مړ | بیا موږ هغه ژوندے کړو | او جوړ کړو موږ | هغه د پاره | نور | چه روان وی
ایا څوک چه مړ وو بیا موږ هغه ژوندے کړو او هغه د پاره مو رڼا پیدا کړه چه د دے په مل د

بِهٖ فِى النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِى الظُّلُمٰتِ
د هغې په مل سره | په خلقو کښې | ایا د هغه چا په شان دے | چه په تیارو کښې وی
سره هغه د خلقو په مینځ کښې ژوند تیروی د هغه چا په شان کیدے شی چه په تیارو کښې پروت وی .

لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٢﴾
چه نه شی راوتلے | له هغې نه | د غه شان | بنائسته کړے شو یعنے | کافرانو د پاره | هغه عمل | چه دوی یئے کوی ۔
او بیا ترے نه وتلے نه شی ؛ د غسے کافرانو ته د هغوی (خراب) عملونه بنائسته ښکاره شوی دی

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِىْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا ؕ
او د غه شان | جوړ کړل موږ | په هر یو کلی کښې | لوئے لوئے | مجرمان د هغه کلی | چه دوی مکر وکړی | په هغې کښې
او هم د غسے موږ په هر کلی کښې د هغه ځائے غټان مجرمان جوړ کړی دی ، چه د مکر جالونه پکښې خوروی

وَمَا يَمْكُرُوْنَ اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذَا جَآءَتْهُمْ
او دوی مکر نه کوی | مګر | د خپلو ځانونو سره | او دوی نه پوهیږی | او کله چه راشی دوی ته
او دوی (اصل کښې) د بل چا سره نه بلکه ، خپلو ځانونو سره فریب کوی خو دوی پوهیږی نه ۔ او هر کله چه دوی ته

اٰيَةٌ قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ
نخښه نخښه | (نو) وائی | موږ به هیڅ کله ایمان نه راوړو | تر د ے چه | را کړے شی موږ ته | په شان د هغه څه
یوه نخښه راشی ، نو وائی چه موږ هیچرے نه منو تر څو چه څنګه موږ ته هغسے نخښے رانه کړے شی لکه چه د

اُوْتِىَ رُسُلُ اللّٰهِ ؔؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ
چه ورکړے شول | د الله پیغمبرانو ته | الله ښه پوهه دے | کوم ځائے چه | هغه ایږدی | خپل پیغام | زر به ورسیږی
الله تعالیٰ رسولانو ته ورکړے شوی دی ۔ الله تعالیٰ ښه پوهیږی چه څوک د خپل رسول جوړ کړی ، مجرمانو ته به

الَّذِیْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِیْدٌۢ بِمَا

هغوته | کوموچه جرم وکړو | رسوائی | د الله سره | او عذاب | سخت | په سبب د دې چه

دیر زر د الله تعالیٰ په دربار کښې ډیر ذلت او سخت عذاب ورسی ځکه چه دوی به مکاریانې

كَانُوْا یَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ فَمَنْ یُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ یَّهْدِیَهٗ یَشْرَحْ صَدْرَهٗ

دوی به پل تل بیرونه کول | پس چاته چه | الله وغواړی | چه هدایت وکړی هغه ته | نو پرانیزی | د هغه سینه

کولې. (حقیقت دادے چه) چاته الله تعالیٰ هدایت کول وغواړی نو (د) اسلام (تعلیم) ته د هغه سینه

لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ یُّرِدْ اَنْ یُّضِلَّهٗ یَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَیِّقًا

اسلام د پاره | او چاته چه هغه وغواړی | چه | گمراه ئے کړی | نو کړی | د هغه سینه | تنگه

پرانیزی. او څوک چه گمراه کول غواړی نو د هغه سینه داسے لنډه تنگه کړی (چه اسلام قبلول ورته داسے

حَرَجًا كَاَنَّمَا یَصَّعَّدُ فِی السَّمَآءِ ؕ كَذٰلِكَ یَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ

ډیر زیات تنگه | داسے لکه چه په زور سره خیژی | په اسمان کښې | دغه شان | ورغوروزوی | الله | ناپاکی

بنکاری) لکه چه لوړ ځائے ته ډیر په گرانه خیژی دغه رنگ ناپاکی الله تعالیٰ په هغه چا اولی

عَلَی الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢٥﴾ وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِیْمًا ؕ

په هغو خلقو | چه ایمان نه راوړی | او هم دا ده | لاره | ستا د رب | نیغه

چه ایمان نه راوړی او دا ستا د پروردگار (ښودلے) لاره ده.

قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمْ

بیشکه | مونږ په تفصیل سره بیان کړے | نخښے | د هغو خلقو د پاره | چه نصیحت منی | د دوی د پاره دے

او مونږ نصیحت اوریدونکو ته خپلے نخښے په تفصیل سره بیان کړی دی دوی له د

دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِیُّهُمْ بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٧﴾ وَ

کور د سلامتیا | د دوی د رب سره | او هغه | د دوی مددگار دے | په سبب د هغه څه چه دوی به کول | او

دوی د پروردگار سره د سلامتیا کور دے او د دوی د نیکو عملونو په وجه هغه د دوی مددگار دے. او

یَوْمَ یَحْشُرُهُمْ جَمِیْعًا ۚ یٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ

په کومه ورځ | چه هغه به جمع کړی دوی | ټول | (نو وبه فرمائی) اے ډلے | د پیریانو | تاسو تابع کړی وو ډیر

په کومه ورځ چه الله تعالیٰ دوی ټول جمع کړی او وفرمائی چه اے د پیریانو ډلے! تاسو خو د بنیادمو نه ډیر

مِّنَ الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ اَوْلِیٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ

له بنیادمو نه | او وبه وائی | دوستان د دوی | له انسانانو نه | اے زمونږ ربه! | فائده واخسته

خلق گمراه کړی وو، او په بنیادمو کښې څوک چه د پیریانو مددگاری وو وبه وائی چه اے زمونږ ربه! مونږ په

بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّبَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِیْۤ اَجَّلْتَ لَنَا ؕ

له مونږ نه څینو | د څینو نه | او مونږ ورسیدو | خپل هغه میعاد ته | کوم چه | مقرر کړے وو تا | مونږ د پاره

دنیا کښې د یو بل نه بے فائدے اخستی دی او اوس هغه نیټے ته راورسیدو چه تا زمونږ له مقرر کړے وه

قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ

وبه فرمائي | اور دی | ځائے ستاسو | همیشه به یئ | په هغې کښې | مګر | څه چه غواړي | الله | بېشکه

الله به ورته وفرمائي چه اور ستاسو ټیکاڼه ده همیشه به پکښې اوسیږئ خو (هغه کسان به معاف شي) چه چاله دَ الله تعالیٰ

رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿١٢٨﴾ وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ

ستا رب | خاوند د حکمت | پوهه دے | د غه شان | مونږ به ملګری کړو | ځینې ظالمان

مرضي شي بېشکه ستا رب د حکمتونو خاوند په هر څه پوهه دے او د غه شان به مونږ ځینې ظالمان د نورو ځینو سره د خپلو

بَعْضًاۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٢٩﴾ ع يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ

ع ١٥

د ځینو نه | په سبب د هغه څه | چه دوی به کول | اے ډلے | د پیریانو | او بنیادمو

عملونو په وجه ملګری کړو ۔ اے د پیریانو او بنیادمو ټولګو

اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ

ایا نه دی راغلی تاسو ته | پیغمبران | له تاسو نه | دوی به بیانول | تاسو ته | زما ایتونه | او ویرول به دوی تاسو

ایا تاسو ته ستاسو نه پیغمبران نه وو راغلی چه زما آیتونه ئې درته اوړول ، او د نن ورځې د

لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ

ملاقات نه | ستاسو د دے ورځې نه | دوی به ووائي | مونږ ګواهي ورکوو | په خپلو ځانونو باندې | او دوکه ورکړې وه دوی ته

ملاقات نه ئې ډېرولی ۔ هغوی به وائي چه مونږ په خپلو ځانونو ګواهي کوو ، او دوی لره

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿١٣٠﴾

ژوندون | د دنیا | او دوی ګواهي ورکړه | په خپلو ځانونو | چه واقعي دوی | وو | کافران

د دنیا ژوند په دوکه کښې غورزولي وو خو په دغه ورځ به په خپله اقرار وکړي چه دوی د حق نه انکار کوونکي وو

ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا

دا ځکه | چه | نه دے | ستا رب | هلاکوونکے | د ښارونو | په ظلم سره | هر کله چه د ښارونو اوسیدونکي

دا په دے وجه چه ستا رب په ظلم او ناانصافۍ سره په داسے حالت کښې کلي نه تباه کوي چه د هغه ځائے اوسیدونکي

غٰفِلُوْنَ ﴿١٣١﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ

بے خبره وي | او هر یو د پاره | درجے دي | د دوی د عملونو په وجه | او نه دے | ستا رب | بے خبره

(ځکه چې نه) بے خبره وي او ټولو د پاره د هغوی د عملونو مطابق درجے دي . او ستا رب د هغوی د عملونو

عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٢﴾ وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ اِنْ يَّشَاْ

له هغه څه نه | چه دوی ئې کوي | او ستا رب | (ډېر) بے نیازه | خاوند د رحمت دے | که چرے هغه وغواړي

نه بے خبره نه دے او ستا رب غنی دے د رحمتونو خاوند دے ، که هغه وغواړي

يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنْۢ بَعْدِكُمْ مَّا يَشَآءُ كَمَآ

(نو) لرے به کړي تاسو | او جانشین به کړي | پس له تاسو نه | څوک چه هغه وغواړي | لکه څنګه چه

نو تاسو به فنا کړي او تاسو نه پس چه څوک ئې خوښ وي هغوی به ستاسو په ځائے کښېنوي لکه څنګه چه

أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ

هغهٔ پیدا کړی تاسو | دَ نسل نه | دَ نورو خلقو | بیشکه | دَ کوم خبرې | چه تاسو ته وعده درکولے شی

تاسو ئے دَ بل قوم دَ نسل نه راپیدا کړی . دَ کوم څيز چه تاسو سره وعده شوے ده

لَآتٍ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا

هغه راتلونکے ده | او نهٔ یئ تاسو | عاجزه کوونکی | دوایه | اے زما قومه! | تاسو عمل کوی

هغه یقیناً راتلونکے دے او تاسو (الله) عاجزه کولے نهٔ شئ . دوایه چه اے زما قومه! په خپل ځائے

عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُ

په خپل ځلئے باندې | بیشکه زهٔ هم عمل کوونکے یم | پس تاسو ته به زر معلومه شی | هغه څوک | چه وی به هغهٔ له

لګیا وسئ عمل کوئ او زهٔ هم په خپل ځائے عمل کوم ، زر به درته معلومه شی ، چه دَ آخرت (ښهٔ)

عَاقِبَةُ الدَّارِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿١٣٥﴾ وَجَعَلُوا لِلَّهِ

ښهٔ انجام | په آخرت کښې | بیشکه | خلاص به نهٔ شی | ظالمان | او مقرر کړے ده دوی | الله له (هم)

انجام دَ چا دَ پاره دے ، بیشکه چه ظالمان هیڅ رے خلاصیږے نهٔ شی . او دوی دَ خدائے دَ پاره دَ

مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هَٰذَا لِلَّهِ

له هغې نه | چه پیدا کړل هغهٔ | فصل | او څاروی | یوه برخه | بیا وائی | چه دا (خو) | دَ الله ده

هغهٔ په پیدا کړو فصلونو او په څارو کښې یوه برخه مقرر کړے ده ، نو په خپل ګمان کښې وائی چه دا یوه

بِزَعْمِهِمْ وَهَٰذَا لِشُرَكَائِنَا ۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ

دَ خپل خیال مطابق | او دا | زمونږ دَ شریکانو دَ پاره | پس کومه (برخه) چه ده | دَ دوی دَ معبودانو | هغه خو نهٔ رسی

برخه دَ الله شوه او دا بله (برخه) زمونږ دَ جوړ کړو شریکانو شوه ، نو بیا چه کومه برخه ئے شریکانو له مقرر کړی وی نو هغه

إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَائِهِمْ ۗ سَاءَ

الله ته | او کومه (حصه) چه ده | دَ الله | نو هغه | رسیږی | دَ دوی دَ معبودانو طرف ته | ډیر بد دی

هیڅکله الله ته نهٔ رسی او چه کومه ئے الله تعالیٰ له مقرر کړی وی نو هغه دَ دوی شریکانو ته وررسی ، دوی

مَا يَحْكُمُونَ ﴿١٣٦﴾ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ

کومه چه دوی فیصله کوی | او دغه شان | ښائسته کړے دے | دَ ډیرو | مشرکانو دَ پاره | وژل

څومره خرابه فیصله کوی ! او هم دغه شان دَ ډیرو مشرکانو په خیال کښې دَ دوی (جوړ کړو) شریکانو خپل

أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ

دَ اولاد خپل | دَ دوی شریکانو | چه هغه دوی هلاک کړی | او چه ګډ وډ کړی | په دوی باندې | دَ دوی دین

اولاد وژل ښائسته ښکاره کړی دی چه برباد ئے کړی ، او چه دین ئے ورته ګډ وډ کړی

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ وَقَالُوا

او که چیرې | غوښتے الله (نو) | دوی به نهٔ وو کړی دا | پس پرېږده دوی | او کوم چه | دوی دروغ تړی . | او دوی وائی

او که الله ته منظوره وے نو دا عمل به ئے نهٔ کول ، خو دوی پرېږده چه په خپلو دروغو کښې دغسے پراته وی ، او دوی

هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ

(چه) دا | څاروي | او فصل | منع کړے شوي دي | نه به خوري دا | مګر | هغه څوک چه مونږه غواړو

دا هم وائي چه دا څاروي او دا پټي منع دي صرف هغه خلق به ئې خوري چا ته چه زمونږ

بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ

د دوی د خیال مطابق | او (څه) څاروي | (چه) حرام دي | د هغوی شاګانه (د سورلۍ د پاره) | او (څه) څاروي دي | چه دوی نه اخلی

خوښه وي (دا پابندي کوي) په خپل ګمان (ګنوله ده) او دا سے څاروي ئې مقرر کړي دي چه په هغې باندې

اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ۭ سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا

نوم د الله | په هغوی باندې | په دروغو تړلو | الله باندې | ډير زر به سزا ورکړي دوی ته | په سبب د دې

ئې سورلي او باروړه ورباندې بند کړل او دا څاروي چه د الله نوم پرې د حلالولو په وخت نه اخلی دا ټول په الله د دروغ تړی، الله تعالیٰ

كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝١٣٨ وَقَالُوْا مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ

چه دوی به دروغ تړل | او دوی وائي | (چه) کوم (بچي) دي | په خيټو کښې | د دے | څاروُو

به ورله ډير زر د دروغو سزا ورکړي. او دوی وائي چه د دے څاروُو په ګيډه کښې کوم بچے دے، هغه خالص

خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰٓى اَزْوَاجِنَا ۚ وَاِنْ يَّكُنْ

(هغه) خاص (دي) | زمونږ د سړو د پاره | او حرام دي | زمونږ په ښځو باندې | او که چرې | هغه وي

زمونږ د سړو د پاره دے، او زمونږ په زنانو حرام دے، او که چرے هغه

مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ۭ سَيَجْزِيْهِمْ وَصْفَهُمْ ۭ

مړ | نو هغه (ټول پکښې شريک) | په دے کښې | شريک دي | الله به سزا ورکړي دوی ته | د دوی د دے کار

بچے مړ وي، نو بيا ټول (نر ښځې) پکښې شريک دي الله تعالیٰ به دوی له د خپلو (غلطو) بيانونو سزا

اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ۝١٣٩ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ

بيشکه هغه | خاوند د حکمت | پوهه دے | بيشکه | تاوانيان شول | هغه کوم چه | ووژل | اولاد خپل

ورکړي هغه د حکمت خاوند او په هر څه پوهه دے. هغه خلق يقيناً تاوانيان شول چه خپل اولاد ئې په ناداني

سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّحَرَّمُوْا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَآءً

په بے وقوفۍ کښې | بے له پوهے نه | او دوی حرام کړل | هغه څه | چه روزي ورکړې ده دوی ته | الله | په وجه د دروغو تړلو

او بے سنده ووژل، او کوم روزي چه الله تعالیٰ ورکړې وه هغه ئې په ځان حرام کړه څکه چه په الله

عَلَى اللّٰهِ ۭ قَدْ ضَلُّوْا وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ۝١٤٠ وَهُوَ الَّذِيْٓ

په الله باندې | بيشکه دوی ګمراه شول | او نه شول دوی | سمه لار موندونکي | او الله هغه ذات دے چه

ئې دروغ جوړ کړل دغه خلق يقيناً ګمراه شول او دوی سمه لار موندونکي نه شوه او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه

اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ

پيدا ئې کړل | باغونه | خيژولي شوي په پايو لکه د انګورو زيلۍ | او چه نه دي خيژولي شوي په پايو (مضبوطه والا) | او قجورے

باغونه ئې پيدا کړل هغه هم د کومو چه کمزورے زيلۍ په چهتونو خيژولې شي او هغه هم چه نه شي خيژولے او د قجورو اونه

وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا

او فصلونه | چه مختلف دي | میوې د دې | او زیتون | او انار | څه یو شان

او دا ئے فصلونه چه میوې ئے د مختلف قسم وي او د زیتون او انار اُونې په صورت شکل کښې ډیر یو بل

وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖۤ اِذَآ اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ

او څه د مختلف قسم | (چه) خورئ | له میوو د دے نه | کله چه میوه ونیسي | او ادا کړئ | د دے حق

سره ملاؤ هم او مختلف هم ، تاسو د هغې ټولے میوے خورئ کله چه میوه ونیسي او د ریبلو په ورځ ترے نه

يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ۟ ١٤١

په ورځ د ریبلو د دے | او بے ځایه مه خرڅ کوئ | بیشکه هغه | نه خوښوي | بے ځایه خرڅ کوونکي

د دے شرعي حق ادا کوئ او بے ځایه خرڅ مه کوئ یقینًا الله تعالیٰ د حد نه وتونکي نه خوښوي

وَمِنَ الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ؕ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ

او له څاروو نه (دي) | بار اُوچتوونکي | او زمکے سره لګیدلي | خورئ | له هغه څه نه | چه روزي در کړےده تاسو ته

او له څاروو نه څه بار اُوچتوونکي (د لوړقد) او څه زمکے سره لګیدلي (د درګوتي قد) دي. او (خلقو!) الله تعالیٰ چه

اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۟ ١٤٢

الله | او پیروي مه کوئ | د قدمونو | د شیطان | بیشکه هغه | ستاسو | دښمن دے | ښکاره

څه درکړي دي هغه خورئ او د شیطان د قدمونو پیروي مه کوئ بیشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دے

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ؕ قُلْ

اَته | جوړے (دي) | له ګډو نه | دوه | او له چیلو نه | دوه | ووایه

د په څاروو کښې د کوم چه غوښه خوړلے شي) اته قسمه پیدا کړل له ګډو نه دوه (نر او ښځه) او له چیلو نه دوه (نر

ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ

آیا دواړه نران | هغه حرام کړي دي | یا | دواړه ښځے | یا هغه (بچي) | چه مشتمل دي | په هغې

او ښځه) (اے پیغمبره!) پوښتنه وکړه چه آیا الله تعالیٰ دواړه قسمه نران حرام کړي دي که دواړه ښځے یا هغه بچي

اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ نَبِّـُٔوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۟ ١٤٣

رحمونه | د دواړو ښځو | خبر راکړئ ماته | په علم | که چرے | یئ تاسو | رښتیني

چه د دواړه قسمه مادو په ګیډو کښے پروت دے ماته په دلیل سره سم سم ووایئ که تاسو رښتیني یئ ؟

وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ؕ قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ

او له اوښانو نه | دوه (نر او ښځه) | او له غواګانو نه | دوه (نر او ښځه) | ووایه | آیا دواړه نران

او (دغه شان) په اوښانو کښے دوه او له غواګانو نه دوه (نر او ښځه) دي. پوښتنه وکړه چه آیا (الله) دواړه

حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ

هغه حرام کړي دي | یا | دواړه ښځے | یا هغه (بچي) | چه مشتمل دي | په هغې | رحمونه | د دواړو ښځو

نران پکښے حرام کړي دي که دواړه ماده یا هغه بچي چه د دواړو مادو په ګیډه کښے پروت دے؟

اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

یا | اَیا وئ تاسو | حاضر | کله چه وصیت کړے وو تاسو | الله | په دے | پس څوک دے | زیات ظالم | له هغه چا

یا ایا تاسو هغه وخت (دَ الله تعالیٰ سره) حاضر وئ کله چه هغهٔ تاسو ته دَ دے حکم درکړو نو دَ هغه چا نه به ظالم څوک

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه تړی | په الله باندې | دروغ | چه ګمراه کړی | خلق | بے له پوهے نه | بیشکه | الله

کیدے شی چه په الله تعالیٰ باندې دروغ تړی چه خلق پرے دَ علم نه بغیر (په جهالت سره) ګمراه کړی بیشکه الله

لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۟۱۴۴ قُلْ لَّاۤ اَجِدُ فِىْ مَاۤ اُوْحِىَ اِلَىَّ

لار نه ښائی | قوم | دَ ظالمانو ته | ووایه | نه بیاموم زهٔ | په هغه څه کښے | چه وحی شوے ده | ما ته

هغو خلقو ته هدایت نه کوی کوم چه ظالمان دی. (اے پیغمبره!) ووایه چه کوم وحی ما ته رالیږلے شوے ده په

مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗۤ اِلَّاۤ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا

(څه څیز) حرام | په خوړونکی باندې | چه خوری هغه | سوا دَ دے نه چه | وی هغه | مردارهٔ | یا وینه

هغے کښے خوړنه په یو خوړونکی باندې دَ خوراک دَ پاره هیڅ څیز حرام نه مومم. مګر دا چه مرداره وی یا بهیدلے وینه

مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ

بهیدلے | یا غوښه | دَ خنزیر | پس بیشکه هغه | ناپاک دے | یا ناجائزه (حلاله) | چه آواز شوی وی

وی، یا دَ خنزیر غوښه وی ځکه چه دغه پلیته ده، یا ناروا حلاله وی چه دَ الله نه سوا دَ

لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ

دَ غیر الله | په هغے | پس څوک چه | مجبوره شی | چه نافرمانی کوونکے نه وی | او نه زیاتی کوونکے | نو بیشکه

بل چا نوم پرے اخستے شوے وی. څوک چه مجبوره شی نافرمانی نه کوی او دَ حد نه دَ تیریدو اراده نه لری نو بیشکه

رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۟۱۴۵ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا

ستا رب | بخښونکے | مهربان دے | او په | هغه خلقو | چه یهودیان دی | مونږ حرام کړے وو

ستا رب بخښونکے مهربان دے، او په یهودیانو باندې مونږ نوکونه لرونکی ځناور ټول

كُلَّ ذِىْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَاۤ

هر یو | نوکونو والا څیز | او له غواګانو نه | او له ګډو چیلو نه | حرام کړی وو مونږ | په دوی باندې | وازدې دَ دواړو

حرام کړی وو او په غوئین مال کښے او په چیلو کښے مو پرے وازده حرام کړے وه

اِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُوْرُهُمَاۤ اَوِ الْحَوَايَاۤ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ؕ ذٰلِكَ

سوا اَدَ هغه نه چه لګیدلی وی | دَ دوی دَ شا ګانو (سره) | یا کلمو باندې | یا هغه چه رانښتی وی | دَ هډوکی سره | دا

مګر هغه چه په شا پورے لګیدلے وی یا په کلمو پورے نښتی وی یا په هډوکی پورے لګیدلے وی، دا مو

جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۟۱۴۶ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ

مونږ جزا ورکړه دوی ته | دَ دوی دَ نافرمانی په وجه | او بیشکه مونږ رښتونی یو | بیا که چرے | دوی تا دروغژن کړی | نو ووایه

دوی له دَ سرکشئ سزا ورکړے وه او دا چه څهٔ وایو بالکل رښتیا وایو نو که دوی تا دروغژن وګڼړی نو ورته ووایه

رَبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُهٗ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٤٧﴾

ستاسو رب | خاوند دَ ډیرے مهربانئ دے | او نهٔ شي واپس کولے | دَ هغهٔ عذاب | دَ مجرم قوم نه

چه ستاسو خدائے دَ فراخ رحمت خاوند دے۔ او دَ هغهٔ عذاب دَ مجرمانو خلقو نه پسته نه کیدے نهٔ شي۔

سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا

زر به وائی | هغه خلق | چه مشرکان دی | که چرے | غوښتلے الله | (نو) نه به مونږ شرک کولو | او نه پلارانو زمونږه

دا مشرکان به (ستا په جواب کښے) وائی که الله غوښتلے نو مونږ به شرک نه کولو او نه به مو پلارنیکه کولو

وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ ۚ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتّٰى

او نه به مونږ حرام کړے وو | څهٔ څیز | هم دغه شان | دروغ کړے وو | هغو خلقو | چه وړاندې له دوی نه وو | تر دے چه

او نه به مونږ څهٔ څیز حرام ګرځولو، دغه شان هغه خلقو هم دروغ کړے وو چه دَ دوی نه وړاندې تیر شوی دی.

ذَاقُوْا بَاْسَنَا ۗ قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ

خوند ئې وڅکلو | زمونږ عذاب | ووایه | ایا (شته دے) | تاسو سره | څهٔ پوهه | نو را وُباسئ هغه

تر دے چه دوی زمونږ دَ عذاب مزه وڅکله (اے پیغمبره!) ورته ووایه چه تاسو سره څهٔ دلیل شته چه مونږ ته ئې

لَنَا ۗ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَخْرُصُوْنَ ﴿١٤٨﴾

مونږ ته | پیروی نهٔ کوئ تاسو | مګر | دَ ګمان | او نهٔ یئ تاسو | مګر صرف غلطے اندازے کوونکی یئ

ښکاره کړئ؟ تاسو خو تش په ګمان چلیږئ (دَ حقیقت نه بے خبره یئ) او تاسو صرف غلطے اندازے لګوئ

قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۚ فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٤٩﴾

ووایه | پس دَ الله دے | دلیل | پوخ | پس که چرے | هغهٔ غوښتلے | نو هدایت به ئے کړے وو تاسو ټولو ته

ته ووایه چه هم دَ الله تعالیٰ دلیل مضبوط دے که چرے الله غوښتلے نو تاسو ټولو ته به ئے هدایت کړے

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ هٰذَا ۚ

ووایه | راولئ | ګواهان خپل | هغه چه | ګواهي ورکړی | چه | الله حرام کړی دے | دا

وو (اے پیغمبره!) ورته ووایه چه خپل ګواهان راولئ چه ګواهي ورکړی چه دا (فلانی فلانی) څیزونه الله حرام کړی

فَاِنْ شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

بیا که چرے دوی ګواهي ورکړی | نو ته هم ګواهي مهٔ ورکوه | دَ دوی سره | او پیروی مهٔ کوه | دَ خواهشاتو دَ هغو چا چه | دروغ ګڼلی

دی نو که دوی (چغلے) شهادت کوی نو ته ورسره شهادت مهٔ کوه او دَ هغو خلقو په خواهشاتو پسے مهٔ ځه چه زمونږ ایتونه

بِاٰيٰتِنَا وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ﴿١٥٠﴾ ع ۱۸ ۵

زمونږ ایتونه | او دَ هغو کوم چه | ایمان نهٔ لری | په اخرت باندې | او دوی | دَ خپل رب سره | (نور) برابروی

دروغ ګڼړی کوم چه زمونږ ایتونه دروغ ګڼړل او چه په اخرت یقین نهٔ لری او نور هستیانے دَ خپل رب سره برابروی

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا

ووایه | تاسو راشئ | چه ووایم زهٔ | څهٔ چه حرام کړی دی | ستاسو رب | په تاسو باندې | چه تاسو شریک مهٔ نیسئ

(اے پیغمبره!) دوی ته ووایه چه راشئ زهٔ تاسو ته اُوروم چه الله په تاسو څهٔ څهٔ حرام کړی دی، دا چه دَ الله تعالیٰ سره هیڅ

بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ

دہٖ سره | هيڅ څيز | او د مور پلار سره | احسان ذکوئ | او مهٔ وژنئ | اولاد خپل

څيز مهٔ شريکوئ او مور پلار سره ښهٔ سلوک ساتئ ، او خپل اولاد د مفلسئ د لاسه

مِّنْ اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ۚ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ

د مفلسئ د ويرے | هم مونږ | روزي درکوو تاسو | او دوی ته | او مهٔ نزدے کيږئ | بے حيائي ته

مهٔ وژنئ ، مونږ تاسو ته هم او دوئ ته هم روزي ورکوو او د بے شرمئ خبرو ته مهٔ نزدے

مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ

چه ښکاره وی | له دے نه | او هغه چه پټ وی | او مهٔ وژنئ | هيڅ نفس | کوم چه

کيږئ کهٔ څرګند دے وی او کهٔ پټ وی ، او يو نفس له چه الله تعالیٰ حرمت ورکړے وی

حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ

حرام کړل (د هغے قتلول) الله | سوا | د حق نه | هم دا | وصيت وکړو هغهٔ تاسو ته | چه تاسو

هغه برناحقه مهٔ وژنئ ، دا هغه خبرے دی چه الله تعالیٰ تاسو ته د دے تاکيد کړے

تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

د عقل نه کار اخلئ | او مهٔ نزدے کيږئ | د يتيم مال ته | سوا د دے نه چه | هغه طريقه | غوره وی

دے شايد چه د عقل نه کار واخلئ . او د يتيم مال ته مهٔ نزدے کيږئ مګر په بهتره طريقه تر دے چه

حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ

ترڅو چه | هغه ورسيږی | خپلے ځوانئ ته | او پوره کوئ | پيمانه | او تله | په انصاف سره

هغه ځوانئ ته ورسيږی او پيمانه او تول په انصاف سره پوره پوره کوئ

لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۚ وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ

مونږ تکليف نهٔ ورکوو | هيڅ کس ته | مګر د هغهٔ د طاقت مطابق | او کله چه تاسو خبره کوئ | نو په انصاف سره کوئ | اګر که هغه وی

مونږ هيچا له د وس نه زيات تکليف نهٔ ورکوو ، او چه خبره کوئ په انصاف سره کوئ ، اګر که صاحب د

ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا ؕ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ

رشته دار | او وعده د الله | پوره کوئ | هم دا حکم درکړے دے هغهٔ تاسو ته | چه تاسو

معاملے رشته دار وی او الله تعالیٰ سره کړے وعده پوره کوئ ، د دے خبرو حکم درته الله تعالیٰ کړے دے چه

تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا

نصيحت حاصل کړئ | او بيشکه دا | زما لار ده | تيغه | پس پيروی کوئ د دے | او پيروی مهٔ کوئ

تاسو ترے نه سبق واخلئ . او بيشکه دا زما لار ده چه تيغه ده نو تاسو پرے روان شئ او په نورو لارو

السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ

د نورو لارو | چه دا لارے به جدا کړی تاسو | د الله د لارے نه | هم دا | حکم درکړے دے هغهٔ تاسو ته

باندے مهٔ ځئ چه دا لارے به تاسو د الله د لارے نه جدا کړی دا هغه خبره ده د کومے چه تاسو ته الله حکم درکړے دے

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا

د پاره د دې چه تاسو | پرهیزګاري کوئ | بیا ورکړه مونږ | موسیٰ ته | کتاب | (چه وو) پوره (نعمت)

چه تاسو پرهیزګاره شئ . بیا مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړے وو ، چه په نیکانو باندې مونږ

عَلَى الَّذِيٓ اَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً

په هغه چا چه | نیکي ئې کوله | او تفصیل | د هر څیز | او هدایت | او رحمت

خپل نعمت پوره کړو ، او د هر یو خبرے تفصیل بیان کړو او سراسري هدایت او رحمت

ع ١٩ / ٦

لَعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ

د پاره د دې چه دوی | په ملاقات | د رب خپل | ایمان راوړي | او دا (قرآن) | یو کتاب دے | چه نازل کړو مونږ

شي چه دغه (بني اسرائیل) خلق د خپل رب په ملاقات ایمان راوړي او دا (قرآن) یو برکتي کتاب دے چه

مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾ اَنْ تَقُولُوٓا

ډیر برکتي | پس پیروي کوئ د دې | او ویره کوئ | چه په تاسو باندې | رحم وکړے شي | چه تاسو (دا ونه) وایئ

مونږ رالیږلے دے نو عمل پرے کوئ او پرهیزګاري اختیار کړئ چه رحم در باندې وشي او س تاسو دا ویلے نه

اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا ۠ وَاِنْ كُنَّا

چه بیشکه | نازل شوے وو | کتاب | په دوو ډلو باندې | له مونږ نه وړاندې | او مونږ وو

شئ چه کتاب خو مونږ نه وړاندې دوو ډلو (یهود او نصاریٰ) ته ورکړے شوے وو ، او مونږ هیڅ خبر

عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿١٥٦﴾ اَوْ تَقُولُوا لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ

د لوستلو د دوی نه | بے خبره | یا تاسو ووایئ | چه که چرته نازل شوے وے | په مونږ که | کتاب

نه وُو چه هغوی ‌څه لوستل . او دا بهانه هم کولے نه شئ چه که په مونږ کتاب رانازل شوے وے

لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

نو خامخا به وُو مونږ | په سمه لاره | د دوی نه زیات | پس | راغلے دے تاسو ته | دلیل (واضحه) | ستاسو د رب له طرف نه

نو مونږ به د هغوی نه زیات په سمه لاره روان وو ، بیشکه تاسو ته د خپل رب د طرف نه روښانه دلیل او هدایت

وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

او هدایت | او رحمت | پس څوک | زیات ظالم دے | له هغه چا نه | چه دروغ ئې وګڼل | ایتونه د الله

او رحمت راغے ، نو د هغه چا نه لوئے ظالم څوک کیدے شي چه د الله تعالیٰ ایتونه دروغ وګڼي

وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِي الَّذِيْنَ يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا

او مخ ئے واړولو | له هغې نه | مونږ به ورسزا ورکړو | هغو خلقو ته | چه مخ اړوي | زمونږ له ایتونو نه

او مخ ترے نه ګرځوي ، څوک چه زمونږ د ایتونو نه مخ اړوي هغوی له به د دے انکار په بدل کښے

سُوٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يَصْدِفُوْنَ ﴿١٥٧﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ

د بد عذاب | په سبب د هغے چه دوی به مخ اړولو | ایا | دوی انتظار کوي | صرف د دې چه | راشي دوی ته

د خراب عذاب سزا ورکوو . اوس خو دوئ صرف د دے خبرے انتظار کوي چه فرښتے ورته

الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوْمَ

فرښتې | یا راشي | ستا رب | یا راشي | ځنې نخښې | ستا د رب | په کومه ورځ

مخامخ ورډېرې یا ستارب ورله پخپله راشي یا ستا د رب ځنې نخښې راشي ، په کومه ورځ چه

يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا

چه راشي | ځنې | نخښې | ستا د رب | نفع به نه ورکوي | هېڅ نفس ته | ایمان د هغه

ستا د رب ځنې نخښې راشي نو هغه چا ته به (سمدستي) ایمان راوړل هېڅ فائده نه ورکوي

لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ؕ قُلِ

چه ایمان نه وي راوړی هغه | له دې نه وړاندې | یا چه نه وي کړې هغه | په خپل ایمان کښې | نېکي | ووایه

چه د دې وړاندې نه یې ایمان راوړی نه وي یا په خپل ایمان کښې یې څه نېکي ګټلې نه وي ، ته ووایه

انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ

انتظار کوئ | بېشکه موږ هم انتظار کوونکي یو | بېشکه | کوم خلق چه | اختلاف پیدا کړو | په خپل دین کښې

چه تاسو انتظار کوئ موږ (هم) انتظار کوو . بېشکه هغه خلق کوم چه په خپل دین کښې اختلافات پیدا کړل

وَكَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ؕ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ

او شول | ډلې ډلې | نه یې ته | له دوی نه | په هېڅ حساب کښې | بېشکه | معامله د دوی

او ډلې ډلې شول ستا د هغوی سره هېڅ تعلق نشته ، د هغوی معامله د الله

اِلَى اللّٰهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ مَنْ جَآءَ

په حواله د الله ده | بیا به هغه خبر ورښائي دوی ته | څه چه | دوی کول | څوک چه راوړي

په حواله ده ، بیا به هغه ورته وښائي چه دوی څه څه کارونه کول . څوک چه (د الله

بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰٓى

نېکي | نو هغه له دي | لس چنده د هغې | او څوک چه راوړي | بدي | نو هغه ته به سزا نه شي ورکولې

دربار ته) نېکي راوړي نو د هغې لس چنده بدله ده او څوک چه بدي راوړي نو هغه ته به فقط د هغې

اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ قُلْ اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ رَبِّيْٓ

مګر په مثل د هغې | او په دوی باندې | به ظلم نه شي کولی | ووایه | بېشکه ما ته | لاره وښودله | زما رب

ګناه هومره سزا ورکولی شي او په دوی به هېڅ ظلم نه کیږي (اے پېغمبره!) ورته ووایه چه ما ته الله تعالیٰ

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۚ

لاره | نېغه | دین | درست | د ملت | د ابراهیم | حنیف

یقیناً سمه لاره ښودلې ده بالکل سم محکم دین د ابراهیمؑ مذهب چه کږلیچ پکښې نشته

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۶۱﴾ قُلْ اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَ

او نه وو | له مشرکانو نه | ووایه | بېشکه | زما مونځ | او زما قرباني | او

او هغه د مشرکانو په ډله کښې شامل نه وو . ووایه چه بېشکه زما مونځ او زما ټول عبادتونه او

مَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ۚ

ژوند زما | او مرګ زما | (هم) الله دپاره دی | چه پالونکے دے د ټولو جهانونو | نشته د ځوک شریک | د هغهٔ

زما ژوند او زما مرګ هر څهٔ خالص د الله دپاره دی چه د ټول مخلوق پالونکے دے ، د هغهٔ ځوک شریک نشته

وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ

او هم د دے (خبرے) | ماته حکم شوے دے | او زهٔ | د ټولو نه رومبے فرمانبردار یم | ووایه | ایا د الله نه سوا

او ماته د دے خبرے حکم راکړے شوے دے او زهٔ پخپله د ټولو نه اول فرمانبردار یم . (اے پیغمبره!) ووایه چه

اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۭ وَلَا تَكْسِبُ

زهٔ ولټوم ؟ | ځوک (بل) رب | او هغه دے | پروردګار | د هر څیز | او عمل نهٔ کوی

ایا د الله نه سوا بل رب ولټوم ؟ حال دا دے چه هغه د هر څیز پروردګار دے . او هر ځوک چه هر څهٔ

كُلُّ نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ

هیڅ کس | مګر په خپل ځان | او نهٔ اوچتوی | هیڅ اوچتونکے | پیټے | د بل چا

عمل کوی نو هغه به ئے پخپله ذمه واروی ، او هیڅوک به د بل چا بار نهٔ اوچتوی

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ

بیا | ستاسو د رب طرف ته | واپس تلل دی ستاسو | پس هغه به ښائی تاسو ته | هغه (خبره) | په کومه کښے چه تاسو

بیا به تاسو ټول الله تعالیٰ ته پستنه ځئ . پس هغه به تاسو ته ښائی په کومو کومو خبرو کښے

تَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ

اختلاف کولو | او هم هغه دے چا چه | جوړ کړئ تاسو | (خپل) نائبان | په زمکه کښے | او اوچت کړے

چه تاسو اختلاف کولو . او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئے په زمکه د اختیار خاوندان کړئ او چا لره ئے په

بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ۭ

له تاسو نه د ځینو | په ځینو باندے | درجے | د پاره د دے چه هغه وآزمائی تاسو | په هغه څه کښے | چه درکړی دی تاسو ته

تاسو کښے د نورو په مقابله کښے اوچتے درجے ورکړے چه ستاسو ازمینت وکړی په هغه نعمتونو چه درکړی ئے دی

اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ڮ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٦٥﴾ ع ٢٠

بیشکه | ستا رب | زر عذاب ورکوونکے دے | او بیشکه هغه | بخښونکے | مهربان دے

بیشکه الله په سزا ورکولو کښے ډیر تند دے او بیشکه هغه ډیر بخښونکے مهربان دے .

سُوْرَةُ الْاَعْرَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَانِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّسِتُّ اٰيَاتٍ وَّاَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

سورة اعراف په مکه کښے نازل شوے ده | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات د رحم خاوند دے | ۲۰۶ ایتونه او ۲۴ رکوع لرونکے دی

شروع کوم د الله په نوم چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

الٓمّٓصٓ ﴿١﴾ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ

الف لام میم صٓ | (دا) کتاب دے | چه نازل شوے دے | ستا طرف ته | پس نهٔ دِ وی | ستا په سینه کښے

دا (قرآن) یو کتاب دے چه تا ته رالیږلے شوے دے ، نو ستا زړهٔ دِ په دے خبره نهٔ

حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢﴾

(شه) تنګي | دَ دې (وجې) نه | دَ پاره دَ چه وويرې ته | په دې | او نصيحت وي | ايماندارو دَ پاره

تنګيږي چه خلق پرې (دَ خدائے دَ عذاب نه) ويروې او دا دَ مؤمنانو دَ پاره نصيحت دے

اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

پيروي کوئ تاسو | دَ هغه څه چه نازل شوې دې | تاسو ته | ستاسو دَ رب دَ طرف نه | او پيروي مه کوئ | دَ ده نه سوا

تاسو په هغه (کتاب) عمل کوئ چه دَ خپل رب دَ طرف نه درته راغلے دے او دَ الله تعالیٰ نه سوا دَ نورو

اَوْلِيَآءَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٣﴾ وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا

دَ نورو معبودانو | ډيرلږ (دی) | چه تاسو نصيحت قبلوئ | او څومره | له کلو نه | مونږ هلاک کړل

معبودانو پيروي مه کوئ خو (افسوس دے چه) ډيرلږ تاسو نصيحت حاصلوئ. او څومره (ډيرې) کلی دی چه مونږ تباه

فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْ هُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿٤﴾ فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ

چه راغلو په دوی | زمونږ عذاب | دَ شپې | يا دوی دَ غرمے اوده وُو | پس نه وه | خبره دَ دوی

کړل نو هغوی ته زمونږ عذاب يا خو دَ شپې راغے او يا چه هغوی دَ غرمے اوده پراته وُو ، هر کله چه زمونږ عذاب

اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥﴾

کله چه راغلو په دوی | زمونږ عذاب | مګر دا چه | وَئے وئيل | بيشکه هم مونږ وُو | ظالمان

پرې راغے نو دَ هغوی په خوله بغير دَ دې نه بله هيڅ خبره نه وه چه بيشکه مونږ ظالمان وُو

فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْئَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٦﴾

پس مونږ به خامخا پوښتنه وکړو | دَ هغو خلقو نه | چه ليږلے شوی وُو (رسولان) | هغوی ته او خامخا به پوښتنه وکړو مونږ | دَ رسولانو نه (هم)

نو مونږ به خامخا دَ هغو خلقو نه تپوس کوو چه پيغمبران ورته ليږلے شوی وو او دَ پيغمبرانو نه به هم خامخا تپوس کوو

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿٧﴾ وَالْوَزْنُ

بيا به مونږ بيان کړو (حقيقت) | دوی ته | (په خپل) علم سره | او نه وُو مونږ | غائب | او تول (دَ عملونو)

بيا به مونږ (دَ خپل) علم په ذريعه ټول حالات دوی ته وښايو او مونږ څه غائب خو نه يو او په دغه ورځ دَ عملونو

يَوْمَئِذِ ࣙالْحَقُّ ۚ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٨﴾

په دغه ورځ | حق دے | نو دَ چا چه | درنې دی | تلے (دَ نيکو) دَ هغه | پس دغه خلق | هم دوی دی خلاصے مونده ونکی

تول حق دے ، نو دَ چا (دَ نيک عمل) تول چه درون شو خيږي نو بس هم هغه به کامياب وی.

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

او دَ چا چه سپکے وی | تلے (دَ نيکو) دَ هغه | پس هم دغه دی | کوم چه | په نقصان کړې چول | خپل ځانونه

او دَ چا چه (دَ نيک عمل) تول سپک دخيږي نو هغوی په خپله خپل ځانونه تاوانيان کړل ، ځکه چه

بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِى الْاَرْضِ

ځکه چه دوی | زمونږ دَ آيتونو سره | به انصافي کوله | او بيشکه | مونږ (استوګنه له) ځاے درکړو تاسو ته | په زمکه کښے

زمونږ آيتونو سره يې زياتے کولو ، او مونږ تاسو دَ زمکے په مخ آباد کړی

ع ۸

وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿١٠﴾ ع

او جوړې کړې موږ | تاسو د پاره | په هغې کښې | سامان (د ژوند) | ډیر لږ دے | چه تاسو شکر کوئ

او تاسو له موږ هم په دې زمکه کښې د ژوند سامان پیدا کړو (مګر) تاسو خلق ډیر کم شکر کوئ

وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا

او بیشکه | موږ پیدا کړئ تاسو | بیا موږ صورت جوړ کړ ستاسو | بیا وویل موږ | فرښتو ته | چه سجده وکړئ

او (ګورئ) موږ تاسو پیدا کړئ، بیا مو ستاسو شکل و صورت جوړ کړو، بیا مو فرښتو ته وویل چه آدم ته سجده

لِاٰدَمَ ۖ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۗ لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿١١﴾

آدم ته | نو هغوی سجده وکړه | سوا | د ابلیس نه | نه وو هغه | له سجده کوونکو نه

وکړئ، نو هغوی سجده وکړه بغیر د شیطان نه، چه په سجده کوونکو کښې شامل نه شو،

قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ۗ قَالَ

وفرمایل (الله) | څه څیز | منع کړے ته | چه تا سجده ونه کړه | کله چه ما تا ته حکم وکړو؟ | هغه وویل

الله تعالیٰ ترې نه تپوس وکړو چه کوم څیز ته د سجدے کولو نه منع کړے هر کله چه ما درته حکم وکړو، شیطان

اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿١٢﴾

زه | غوره یم | له هغه نه | تا پیدا کړے یم زه | له اور نه | او تا پیدا کړو هغه | له خټې نه

وویل چه زه د هغه نه بهتر یم، تا زه د اور نه پیدا کړے یم او دے دِ د خاورے نه پیدا کړے دے،

قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ

وے فرمایل | پس کوز شه | د دغه ځائے نه | چه نشته د (حق) | ستا | چه ته تکبر وکړے | په دے کښې | پس اوځه

الله پاک وفرمایل د دغه ځائے نه لاندې کوز شه، تا له دا مناسب نه دی چه ته دلته غرور وکړے، بهر اوځه

اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿١٣﴾ قَالَ اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤﴾

بیشکه ته (یې) | له خوار شوو نه | هغه وویل | مهلت راکړه ما ته | تر هغه ورځ پورې | چه راپاڅولے شی خلق

یقیناً ته د ذلیلو خلقو د ډلے نه یې. شیطان وویل ما ته مهلت راکړه هغه ورځې پورې چه خلق به (د قبرونو نه) راپاڅولے

قَالَ اِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ

وفرمایل | بیشکه ته | مهلت ورکړے شوو نه | هغه وویل | په وجه د دې چه | تا زه ګمراه کړم | خامخا به کښینم زه

شی، الله ورته وفرمایل تا ته مهلت درکړے شو. شیطان وویل نو څنګه چه تا زه په ګمراهۍ کښې اچولے یم د دغے به زه

لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ

دوی ته | ستا په لاره | نیغه کښې | بیا به خامخا زه راځم دوی ته | د دوی له وړاندې نه

دے خلقو ته ستا په نیغه لاره کښې کښینم، بیا به یقیناً د دوی له وړاندې نه او د دوی له وروستو نه

وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ۗ وَلَا تَجِدُ

او د دوی له وروستو نه | او د دوی له ښي طرف نه | او د دوی له ګس اړخ نه | او ته به بیا نه مومې

او د دوی له ښي اړخ نه او د دوی له ګس اړخ نه دوی ته راځم، او په دوی کښې اکثر خلق به

أَكْثَرَهُمْ شٰكِرِينَ ﴿١٧﴾ قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا

اکثر له دوی نه | شکر کوونکی | وفرمایل الله | اوځه | له دې ځایه نه | ذلیل شوی | رټلی شوی

ته شکرګذار به یې نه مومې. الله تعالی ورته ووئیل، اوځه له دې ځایه نه ذلیل شوی خوار شوی

لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٨﴾

البته څوک چه | پیروی وکړی ستا | له دوی نه | زه به خامخا ډک کړم | دوزخ | له تاسو ټولو نه

یقین وکړه چه څوک ستا په لاره باندې روان شي، نو زه به ستاسو د ټولو نه دوزخ ډک کړم.

وَيٰٓـَٔادَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا

او اے آدمه! | اوسیږه | ته | او ستا ښځه | په جنت کښې | بیا خورئ تاسو دواړه

او اے آدمه! ته او ستا ښځه دواړه په جنت کښې اوسیږئ، او چه د کوم ځائے نه

مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا

کوم ځائے نه | چه تاسو غواړئ | او مه نزدے کیږئ | دے | اونې ته | پس شئ به تاسو

مو خوښ وی هغه خورئ، خو دغه اونې ته نزدے مه ځئ کنې به ظالمانو

مِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾ فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ

له ظالمانو نه | پس وسوسه واچوله | دے دواړو ته | شیطان | د پاره د دې چه ښکاره کړی

کښې به شمیر شئ. بیا شیطان د دوی په زړونو کښې وسوسه واچوله چه د پردے هغه

لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءٰتِهِمَا وَقَالَ

دوی ته | څه چه | پټ وو | له دوی نه | له شرمګاهونو د دوی نه | او وئیل ده

اندامونه ورته ښکاره کړی کوم چه ترے نه پټ ؤ او ورته ئے ووئیل

مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا

نه یئ منع کړی تاسو دواړه | ستاسو رب | له دے اونې نه | مګر د پاره د دې چه | شئ به تاسو

چه تاسو دواړه د دے اونې نه صرف په دې وجه خپل رب منع کړی یئ چه فرښتے نه شئ

مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ الْخٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا

فرښتے | یا به شئ تاسو | له همیشه اوسیدونکو نه | او قسم ئے وخوړو دوی ته | چه بیشکه زه تاسو ته

یا په دے کښې همیشه پاتے نه شئ او دواړو ته ئے قسم وخوړو چه زه

لَمِنَ النّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا

له نصیحت کوونکو نه یم | پس هغه راټیټ کړل دوی | په دوکه | بیا هر کله چه | دواړو وڅکله

ستاسو یقیني خیرخواه یم. نو دواړه ئے په چل ول راکوز کړل نو هر کله چه د اونې مزه

الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا

هغه اونه | نو ښکاره شول | دوی ته | شرمګاهونه د دوی | او شروع وکړه دواړو | چه انښلول ئے | په ځانونو

ئے وڅکله نو دواړو ته خپل خپل ستر ونه ښکاره شول او په خپلو شرمګاهونو باندې ئے د جنت پاڼے

مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا

پاڼې | دَ جنت | او آواز وکړو دوی ته | رب دَ دوی | آیا ما نه وو منع کړی تاسو

ایښول شروع کړل ، او دَ دوی رب دوی ته آواز وکړو وئې فرمایل: آیا ما تاسو دواړه دَ دے

عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ

له دغې | اونې نه | او (نه) وو وئیلی ما تاسو ته | چه شیطان | ستاسو | دُښمن دے

اونې نه نه وو منع کړی ؟ او آیا دا مې درته نه وو وئیلی چه شیطان ستاسو ښکاره دُښمن

مُّبِيْنٌ ﴿۲۲﴾ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ٚ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا

ښکاره | دواړو ووئیل | اے زموږ ربه! | موږ ظلم وکړو | په خپلو ځانونو | او که چرے | ته و نه بخښے موږ ته

دے . دواړو عرض وکړو اے زموږ ربه! موږ په خپل ځان زیاتے کړے دے او که چرے ته موږ و نه بخښے

وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ قَالَ اهْبِطُوْا

او په موږ رحم و (نه) کړے | نو خامخا به شو موږ | له تاوانیانو نه | و فرمایل الله | کوز شئ

او موږ باندې رحم ونه کړے نو موږ به ضرور نقصان بیا مومو . الله و فرمایل: لاندې کوز شئ

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ

له تاسو نه ځینې | دَ ځینو | به دښمنان وی | او تاسو دَ پاره | په زمکه کښې | استوګنه

تاسو ټول به دَ یو بل دُښمنان یئ ، او تر یو ټاکلي وخته پورے تاسو له په زمکه باندې استوګنه

وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۲۴﴾ قَالَ فِيْهَا تَحْيَوْنَ وَفِيْهَا

او (دَ ژوند) سامان دے | تر یو وخته پورے | و فرمایل الله | په دې (زمکه) کښې | به تاسو ژوند تیروئ | او په دے کښې

او دَ ژوند سامان مقرر شوے دے . ورته ئې و فرمایل چه په دې (زمکه) کښې به ژوند تیروئ او هم په

تَمُوْتُوْنَ وَمِنْهَا تُخْرَجُوْنَ ﴿۲۵﴾ يٰبَنِىْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا ع ١٥ ٢ ٩

به تاسو مرئ | او له دے نه | به تاسو راویستلے شئ | اے بنی آدمو! | بیشکه موږ رالیږلی دی

دے کښې به مرئ او بیا هم دَ دے زمکے نه به راویستلے شئ . اے دَ آدم اولاده! موږ تاسو له جامے

عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِىْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى

په تاسو باندې | جامے | چه پټوی | شرمګاهونه ستاسو | او ښائست (هم دی) | او جامے | دَ پرهیزګاری

درکړی دی چه ستاسو دَ ستر ځایونه پټ کړی او دَ ښائست ذریعه هم وی او دَ پرهیزګارۍ جامه

ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۲۶﴾ يٰبَنِىْٓ اٰدَمَ

غوره دی | دا | دَ الله نخښے دی | دَ پاره دَ دې چه دوی | نصیحت قبول کړی | اے بنی آدمو!

ډیره غوره ده ، دا دَ الله تعالیٰ نخښې دی شاید چه خلق ترے نه سبق واخلی. اے دَ آدم اولاده!

لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ

په فتنه کښې و نه غورزوی تاسو | شیطان | لکه چه دَ راوویستل | ستاسو مور او پلار | له جنت نه

هسے نه چه شیطان مو بیا په فتنه کښې وغورزوی لکه چه ستاسو نیا نیکه ئې دَ جنت نه راویستلی ؤ

يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ

چه اُوباسی | له دوی نه | جامې دَ دوی | چه ښکاره کړی دوی ته | ستروته دَ دوی | بیشکه ګوری تاسو ته

په داسې حالت کښې چه دَ هغوی نه ئې جامې غورزولې چه ستروته ئې یو بل ته ښکاره کړی، هغه او دَ هغه

هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ

هغه او دَ هغه قوم | کوم ځائے نه چه | تاسو نه یې وینئ دوی | بیشکه موږ جوړ کړل | شیطانان

تمام قبیله تاسو دَ داسې ځائے نه وینی چه تاسو ئې لیدلے نه شئ، موږ شیطانان دَ هغو خلقو دوستان

اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا

دوستان | دَ هغو خلقو | چه ایمان نه راوړی | او کله چه | دوی کړی | څه خراب کار | نو وائی

کړی دی چه ایمان نه راوړی ۔ او هر کله چه دوی دَ بے شرمئ یو کار وکړی نو وائی

وَجَدْنَا عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ

موندلی دی موږ | په دې باندې | خپل پلاران | او الله | موږ ته حکم وکړو دَ دې | ووایه | بیشکه الله | حکم نه ورکوی

چه موږ خپل پلار نیکه په دې کارکولو موندلی دی او الله راته هم دَ دې حکم کړے دے، ورته ووایه چه الله دَ بے شرمئ دَ

بِالْفَحْشَآءِ ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾ قُلْ

دَ بے حیائی | ایا تاسو وایئ | دَ الله په حقله | هغه څه چه تاسو پرے نه پوهیږئ | ووایه

کارونو حکم هیچرے نه کوی، ایا تاسو په الله تعالیٰ باندې داسې خبرې تړئ چه خبر ترې نه هم نه یئ۔ ووایه

اَمَرَ رَبِّيْ بِالْقِسْطِ ۗ وَاَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ

حکم کړے دے | زما رب | دَ انصاف | او نیغ ساتئ | خپل مخونه | دَ هر مونځ په وخت

چه زما رب دَ اعتدال ساتلو حکم کړے دے۔ او دا چه دَ هر مونځ په وخت کښې خپل مخونه (بیت الله ته) مخامخ ساتئ

وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ كَمَا بَدَاَكُمْ

او هغه بلئ | خالص ساتئ | هغه دَ پاره | دین | لکه څنګه چه هغه اول پیدا کړئ تاسو

او دا چه یوازې هغه بلئ خپل دین دَ هغه دَ پاره خالص ساتئ، لکه چه څنګه ئې پیدا کړی یئ دغسې

تَعُوْدُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَرِيْقًا هَدٰى وَفَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ

واپس به راشئ (هم هغه شان) | یوې ډلې ته | هغه هدایت وکړو | او بله ډله ده | (چه) واجب شوه | په دوی باندې

به بیرته راځئ ، یوې ډلې ته الله سمه لار ښودلې ده او په بلې ډلې باندې ګمراهي ثابته

الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

ګمراهي | بیشکه دوی | جوړ کړل | شیطانان | دوستان | سوا دَ الله نه

شوې ده. ځکه چه دوی دَ الله تعالیٰ په ځائے شیطانان خپل مشران کړی دی

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ

او دوی ګمان کوی | چه دوی | په سمه لار باندې دی | اے بنی آدمو! | اغوندئ | ښکلې ښائسته جامې

او بیا هم دا خیال کوی چه ګنی په سمه لار باندې روان دی۔ اے دَ آدم اولاده! دَ هر عبادت په موقع باندې

عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ

دَ هر مونځ په وخت | او خورئ | او څښئ | او فضول خرچي مه کوئ | بیشکه هغه

خپله ښائسته جامې اغوندئ او حلال څیزونه خورئ او څښئ او اسراف مه کوئ بیشکه

لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ۟ ۳۱ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ

نه خوښوي | فضول خرچي کوونکي | ووایه | چا حرام کړې ده | ښائست دَ الله | کوم چه

الله تعالیٰ دَ حد نه تیریدونکي نه خوښوي. (اے پیغمبره!) ووایه چه دَ الله تعالیٰ هغه زینت چا حرام کړے دے

اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَ الطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ۭ قُلْ

هغه پیدا کړے دے | دَ خپلو بندګانو دَپاره | او | پاکیزه څیزونه | له رزق نه | ووایه

چه خپلو بندګانو له ئے مقرر کړے دے او (چا) پاکیزه رزقونه (حرام کړي دي) ووایه

هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ

دا خو هغو خلقو دَپاره دي | چه ایمان راوړي | دَ دُنیا په ژوند کښې | او خاص (طور باندې) | دَ قیامت په ورځ

چه دا څیزونه په دے دنیا کښې هم مؤمنانو له پیدا شوي دي او دَ قیامت په ورځ خو به خالص دَ هغوی دَپاره

كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۳۲ قُلْ

دغه شان | مونږ بیانوؤ | آیتونه | دَپاره دَ هغې ډلې | چه پوهیږي | ووایه

دي. مونږ دغه شان خپل آیتونه دَ هغو خلقو دَپاره په تفصیل سره بیانوو کوم چه پوهیږي. (اے پیغمبره!)

اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ

بیشکه حرام کړي دي | زما رب | دَ بے حیائۍ خبرے | هغه چه ښکاره وي | له دے نه | او هغه چه | پټې وي

زما رب خو دَ بے حیائۍ خبرے حرام کړي دي ، که ښکاره وي ، او که پټې .

وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ مَا

او ګناه | او ظلم | ناحق | او دا چه | شریک مقرر کړئ | دَ الله سره | هغه چه

او دَ ګناه کارونه او بر ناحقه زیاتے . او دا چه تاسو الله له شریک پیدا کړئ چه الله

لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا

نه دے نازل کړے هغه | دَ دے | (څه) دلیل | او دا چه | تاسو وایئ | په الله باندې | هغه څه چه

دَ هغې هیڅ سند نه دے رالیږلے ، او دا چه تاسو په الله تعالیٰ باندې داسے خبرے وتړئ

لَا تَعْلَمُوْنَ ۳۳ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ فَاِذَا جَاۗءَ اَجَلُهُمْ

تاسو پرے نه پوهیږئ | او هرے ډلے دَپاره | یو وخت مقرر دے | پس کله چه راشي | دَ دوي وخت

چه تاسو پرے نه پوهیږئ . او دَ هر قوم دَپاره (دَ مهلت) یوه نیټه مقرر ده نو هر کله چه دَ هغوی نیټه پوره شي

لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّ لَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۳۴ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ

نو نه به وروستو شي دوي | یو ساعت | او | نه به مخکښے شي | اے بني آدمو!

نو نه به یو ساعت وروستو کیدے شي او نه به یو ساعت وړاندې کیدے شي. اے دَ آدم اولاده!

إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِى

که راشي تاسو ته | پیغمبران | له تاسو نه | چه بیان کړي | ستاسو مخکښې | زما ایتونه

که تاسو ته ستاسو د قوم نه پیغمبران راشي چه زما حکمونه درته اُوروي

فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

نو چا چه پرهیز وکړه (د کفر او شرک نه) | او اصلاح ئے وکړه | نو نه به څه ویره وي | په دوي | او نه به دوي

نو چا چه ځان بچ کړو او نیک کارونه ئے وکړل نو په هغوئ نه څه ویره شته او نه غم

يَحْزَنُونَ ٣٥ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسْتَكْبَرُوا۟ عَنْهَآ

غمژن وي | او کوم خلق چه | دروغ وګڼړل | زمونږ ایتونه | او ستکبر ئے وکړو | له هغې نه

غم - نو چا چه زمونږ حکمونه دروغ وګڼړل او د دے نه ئے تکبر وکړو

أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٦ فَمَنْ أَظْلَمُ

هم دا خلق | او سیدونکي د دوزخ دي | دوي | په دے کښې | همیشه به وي | پس څوک | زیات ظالم دے

هغه خلق دوزخیان دي ، هغوي به په دے کښې همیشه وي . نو د هغه چا نه لوئے

مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ

له هغه نه | چا چه وتړل | په الله باندې | دروغ | یا هغه دروغ کړل | د هغه ایتونه | هم دغه دي

ظالم څوک کیدے شي چه په الله تعالیٰ باندې دروغ تړي یا د هغه حکمونه دروغ ګڼړي ، د دے خلقو

يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمْ

چه وُبه رسیږي دوي ته | د دوي برخه | له کتاب نه | تر دے چه | هر کله | راشي دوي ته

په نصیبه کښې چه څه لیکلي دي هغه به دوي ته ملاؤ شي، تر دے چه کله زمونږ فرښتے د دوي

رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوٓا۟ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ

زمونږ رالیږلي شوي فرښتے | چه قبض کړي روحونه د دوي | وُبه وائي | کوم ځائے دي | هغه څه | چه تاسو به بلل

د روح قبض کولو د پاره د دوي نه راشي نو دوي ته به ووائي چه کوم ځائے دي هغه (معبودان) کوم چه

مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالُوا۟ ضَلُّوا۟ عَنَّا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ

سوا د الله نه | دوي به ووائي | هغه ورک شول | له مونږ نه | او ګواهي به ورکړي | په خپلو ځانونو

تاسو د الله تعالیٰ نه سوا بلل ، دوي به ووائي هغه خو مونږ نه غیب شول او په خپل ځان به په خپله ګواهي وکړي

أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰفِرِينَ ٣٧ قَالَ ٱدْخُلُوا۟ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ

چه بیشکه دوي | ؤو | کافران | وُبه فرمائي الله | داخل شئ | په هغه اُمتونو کښې | چه تیر شوي دي

چه دوي یقیناً کافران وو - الله تعالیٰ به ورته وفرمائي چه د هغه امتونو سره په دوزخ کښې داخل

مِن قَبْلِكُم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ فِى ٱلنَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ

له تاسو نه وړاندې | له پیریانو نه | او له بنیادمو نه | په اور کښې | هر کله چه | داخل شي

شئ چه تاسو نه وړاندې تیر شوي دي که پیریان دي او که بنیادم دي. هر کله چه یو ټولے به دوزخ

أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا

یو قوم	نو لعنت به کوی	دخان په شان په بل قوم	تر دے چه	هر کله	جمع شی	په دے کښے

ته ځی نو په بل ټولی به لعنت کوی تر دے چه هغه قول په دے کښے جمع

جَمِيعًا ۚ قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ

ټول	وُبه وائی	وروستنی ډله د دوی	په حق د وړومبنی کښے	اے زمونږ ربه!	دوی

شی ، نو هر یو وروستنی ټولے به د وړاندینی ټولی په حقله وائی چه اے زمونږ ربه داخلق

أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ

ګمراه کړو مونږ	پس ورکړه دوی ته	عذاب	دوچند	له دوزخ نه	وُبه فرمائی	(چه) هر یو ته دوچند دے

دی چه مونږ ئے ګمراه کړی وو نو دوی له د اور دوه دوبره عذاب ورکړه الله تعالیٰ به ورته وفرمائی چه عذاب

وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾ وَقَالَتْ أُولَاهُمْ لِأُخْرَاهُمْ

لیکن	تاسو نه پوهیږئ	او	وُبه وائی	د دوی وړومبنی (ډله)	وروستنی ته

هر یو له دوه دوبره دے خو تاسو پرے ناخبره یئ . او وړاندینی ټولے به وروستنی ته ووائی (که مونږ د عذاب

فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا

چه نشته دے	تاسو ته	په مونږ باندې	(هیڅ) فضیلت	نو وڅکئ	عذاب	په وجه د هغه عمل

قابل یو) نو تاسو ته (هم) هم زمونږ په مقابله کښے هیڅ فضیلت حاصل نه دے نو د خپل عمل په وجه د عذاب

كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا

چه تاسو به کولو	بیشکه	کوم چه	دروغ کړل	زمونږ آیتونه	او تکبر ئے وکړو

خوند وڅکئ . بیشکه چا چه زمونږ آیتونه دروغ وګڼل او د هغے نه ئے تکبر

عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ

له هغے نه	نه به شی پرانستے	دوی ته	دروازے	د آسمان	او نه	به دوی داخلیږی

وکړو ، هغوی ته به د آسمان دروازے هیڅکله پرانستے نه شی او جنت ته به تر هغے وخته

الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ۚ وَكَذَٰلِكَ

په جنت کښے	تر دے چه	ننوځی اوښ	په سُم کښے	د ستنے	او دغه شان

ننوتلے نه شی چه یو اوښ د ستنے په سُم کښے تیر نه شی ، او مونږ مجرمانو

نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ﴿٤٠﴾ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ

مونږ سزا ورکوو	مجرمانو ته	دوی له به وی	له دوزخ نه	بچهاؤنړه	او د پاسه د دوی نه

له هم داسے بدله ورکوو د هغوی د لاندې به د اور بچهاؤنړه غوړیدلی وی او د پاسه به ئے

غَوَاشٍ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا

د اغوستنے څیز	او دغه شان	مونږ بدله ورکوو	ظالمانو ته	او څوک چه	ایمان راوړی

د اور څادرې (اغوستنے) وی . او مونږ دغه شان ظالمانو ته سزا ورکړو او هغه خلق چه ایمان ئے راوړو

ع ٨ / ١١

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَآ ۡ

او عملونه يې وكړل | نيک | موږ تكليف نه ورکوو | هيڅ نفس ته | مګر | د ده د طاقت مطابق

او نيک كارونه يې كړي وي ، نو موږ يو كس له هم د هغه د طاقت نه زيات تكليف نه ورکوو

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۴۲﴾ وَنَزَعْنَا

هم دا خلق دي | جنت والا | دوی به | په هغه كښې | هميشه وي | او موږ به راوباسو

هم دا خلق جنتيان دي دوی به هميشه په دې كښې وي . او د دوی په زړونو

مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ۚ

څه چې | د دوی په سينو كښې دي | له كينې نه | بهيږي به | د دوی لاندې | نهرونه

كښې چې د يو بل خلاف څه دنيوي كينه پرته وه هغه به موږ لرې كړو او د دوی (د قدمونو) لاندې نهرونه بهيږي

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰىنَا لِهٰذَا ۟ وَمَا كُنَّا

او دوی به ووائي | ټول تعريفونه | الله د پاره | چا چې | لاره د ښودلو موږ ته | د دې (جنت) | او | نه وو موږ

او دوی به ووائي چې ټول تعريفونه الله تعالىٰ د پاره دي چا چې موږ ته دا لاره ښودله او كه الله تعالىٰ راته دا

لِنَهْتَدِيَ لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ ۚ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا

چې موږ لاره موندلې | كه چرته نه وې كړې هدايت موږ ته | الله | بيشكه | راغلي وو | پيغمبران | زموږ د رب

لاره نه ښودلې نو موږ خو په خپله موندلې نه شوه موږ ته د الله تعالىٰ پيغمبران په حقه

بِالْحَقِّ ۗ وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا

د حق دين سره | او دوی ته به آواز وشي | چې دا | جنت دې | تاسو به د دې وارثان يئ | د هغو عملونو په بدله كښې

راغلي دي او يو آواز به ورته وشي چې دا جنت تاسو ته د خپلو (نيكو) عملونو په سبب

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبَ النَّارِ

چې تاسو به (دنيا كښې) كول | او آواز به وكړي | جنتيان | دوزخيانو ته

دركړے شوے دے او بيا به جنتيان دوزخيانو ته آواز وكړي چې

اَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا

چې | موږ خو بيا موندل | چې څه وعده كړې وه موږ سره | زموږ رب | رښتينې | پس آيا | وموندل تاسو (هم) | هغه څه

موږ خو د خپل رب هغه وعده رښتينې بيا موندله ، نو آيا تاسو هم د خپل رب (د عذاب)

وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۗ قَالُوْا نَعَمْ ۚ فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ

چې وعده كړې وه | ستاسو رب | حقه | دوی به ووائي | هو ! | بيا به آواز وكړي | يو آواز كوونكے | د دوی په مينځ كښې

وعده رښتينې بيا موندله كه نه ؟ هغوی به ووائي چې هو ! بيا به يو آواز وركوونكے د دوی د مينځ نه

اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

چې | لعنت دے | د الله | په ظالمانو باندې | هغه چې | منع كول به يې (خلق) | د الله د لارې نه

آواز وكړي چې په ظالمانو باندې د الله لعنت دے ، چې خلق به يې د الله تعالىٰ د لارې نه منع كول

وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَبَيْنَهُمَا

او لټوي په دې کښې | کوږوالے | او دوی | دَ آخرت | منکران دی | او دَ دواړو په مینځ

او په هغې کښې به ئې کوږوالے لټولو او دوی دَ آخرت نه هم منکر وو . او دَ دے دواړو په مینځ

حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْاَعْرَافِ رِجَالٌ يَّعْرِفُوْنَ كُلًّا ۢ بِسِيْمٰهُمْ ۚ

به یوه پرده وی | او په اعراف باندې | به سړی وی | چه پیژنی به دوی | هر یو | دَ دوی دَ مخونو نه

به یوه پرده وی ، او دَ هغې په اوچت سر (اعراف) به هغه خلق وی چه هر یو (جنتی او دوزخی) به په خپلو خپلو مخونو

وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۟ قف لَمْ يَدْخُلُوْهَا

او دوی به آواز وکړی | جنتیانو ته | چه | سلام دِ وی | په تاسو | دوی به لا نه وی داخل شوی په هغې کښې

پیژنی او جنتیانو ته به آواز وکړی ، چه په تاسو دِ سلامتیا وی . دا (اعراف خلق) به لا په جنت کښې نه وی داخل

وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ ۙ

او دوی | به طمع کوی | او هر کله چه | وګرځولے شی | سترګے دَ دوی | په طرف | دَ دوزخیانو

شوی خو امیدوار به ناست وی ، او څه وخت چه دَ دوی سترګے دَ دوزخیانو طرف ته وګرځی

قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَنَادٰٓى

نو وُبه وائی | اے زمونږ ربه! | مه یو ځائے کوه مونږ | ظالمانو خلقو سره | او آواز به وکړی

نو وُبه وائی چه اے زمونږه ربه! مونږ دَ ظالمانو دَ دے سره مه شاملوه . او دَ اعراف والا به

اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ رِجَالًا يَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ قَالُوْا

دَ اعراف خلق | (دغه) خلقو ته | چه دوی به پیژنی هغوی | دَ هغوی دَ تندونه | وُبه وائی

هغو خلقو ته کوم چه به هغوی دَ دوی دَ مخونو پیژنی آواز به وکړی (او) وُبه وائی

مَآ اَغْنٰى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ اَهٰٓؤُلَآءِ

چه په کار دا نغلے | ستاسو | دِ لے ستاسو | او نه دَ فخر هغه خبرے چه تاسو به کولے . آیا هم دا هغه (خلق)

چه ستاسو لښکرے او ستاسو غرور کول ستاسو هیڅ په کار را نه غلل ، او ګورئ دا (جنتیان)

الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ۚ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ

دَ کوم په نسبت | چه تاسو قسمونه خوړل | چه دوی ته به نه رسوی | الله | څه رحمت | داخل شئ تاسو | په جنت کښې

کنی هغه خلق نه دی چه تاسو به پرے قسمونه خوړل چه په دوی به الله هیڅکله رحمت نه کوی (نن هم هغوی ته وویلے شول

لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ النَّارِ

نشته دے هیڅ ویره | په تاسو | او نه به تاسو | غمژن یئ | او آواز به وکړی | دوزخیان

چه) جنت ته ورننوځئ ، نه درله اندیښنه شته او نه څه غم . او دوزخیان به جنتیانو ته

اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا

جنتیانو ته | چه | تاسو را تو یے کړئ | په مونږ باندې | څه اوبه | یا (څه) له هغے نه

آواز وکړی ، چه په مونږ باندې لږ شان اوبه را تو یے کړئ یا څه چه الله تاسو ته دَ خوراک دَ پاره

رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ؕ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۙ﴿٥٠﴾

چه درکړی دی تاسو ته | الله | وُبه وائی دوی | بیشکه الله | حرام کړی دی دا دواړه | په کافرانو باندې.

درکړي دي له هغې نه موږ ته هم راکړئ! هغوی به ووائی چه الله تعالیٰ دا دواړه څیزونه په کفارو حرام کړي دي

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ

کوم چه | جوړ کړو | دین خپل | لوبه | او تماشه | او دوکه ورکړه دوی ته | ژوند | د دنیا

هغو خلقو باندې چا چه خپل دین نه لوبه تماشه جوړه کړې وه او چا له چه د دنیا ژوند دوکه ورکړې وه

فَالْيَوْمَ نَنْسٰىهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا ۙ وَمَا

پس نن ورځ | به هیر کړو موږ دوی | لکه څنګه چه هیر کړې وه دوی | ملاقات | د دې ورځې | او لکه څنګه (چه)

نو نن به مونږ هم دا سې هیر کړو لکه هغوی چه د دې ورځې ملاقات هیر کړې وه ، او زمونږ د

كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿٥١﴾ وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ

دوی زمونږ د آیتونو نه انکار کولو | او بیشکه مونږ لیږلے دے دوی ته | یو کتاب | چه مونږ په تفصیل سره بیان کړے دے

آیتونو نه به ئې انکار کولو . او دوی ته مونږ دا سې کتاب رالیږلے دے چه په خپل علم مو

عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا

په علم سره | هدایت | او رحمت (دے) | د هغو د پاره | چه ایمان راوړی | دوی انتظار نه کوی | مګر

پښه واضح کړې دې او د مؤمنانو د پاره هدایت او رحمت دے . آیا دا خلق د دې د رښتینوالی او

تَاْوِيْلَهٗ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ

د دې د انجام | په کومه ورځ چه | ښکاره شي | د دې انجام | (نو) وُبه وائی | هغه خلق | چا چه هیر کړے وو دا

انجام ښکاره کیدو انتظار کوی؟ په کومه ورځ چه د دې انجام ښکاره شي نو کوم خلقو چه دا د وړاندې هیر کړے وو

مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا

له دے نه وړاندې | چه بیشکه راغلی وو | پیغمبران | زمونږ د رب | په رښتیا سره | پس آیا | شته د مونږ د پاره

دُبه وائی چه بیشکه زمونږ د رب پیغمبرانو حقه خبرے راوړے وے نو آیا اوس مونږ د پاره څوک

مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ

څوک سفارشي | چه سفارش وکړی | زمونږ | یا مونږ واپس ولیږی | چه مونږ عمل وکړو | خلاف د هغې

سفارش کوونکے شته چه زمونږ سفارش وکړی یا مونږ واپس واستولے شو نو د پخوانی عمل نه بالکل بدل

كُنَّا نَعْمَلُ ؕ قَدْ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا

کوم چه مونږ کولو | بیشکه | نقصان ورکړو دوی | خپلو ځانونو ته | او ورک شول | له دوی نه | هغه څه

عملونه به وکړو . یقیناً دے خلقو خپل ځانونه په نقصان کښې واچول ، او کوم دروغ چه به ئې جوړول

كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٥٣﴾ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

چه دوی به دروغ تړل | بیشکه | ستا رب | (هغه) الله دے | کوم چه | پیدا کړل | آسمانونه

هغه ټول ترے نه خطا شول . بیشکه ستاسو رب هغه الله دے چه آسمانونه او مزکه ئې په شپږو

ع ٦/ ١٤

وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ قف یُغْشِی

او ځمکه | په شپږو ورځو کښې | بیا قائم شو | په عرش باندې | هغه پرده اچوي

ورځو کښې پیدا کړل . بیا په عرش قائم شو ، هغه د شپې په

الَّیْلَ النَّهَارَ یَطْلُبُهٗ حَثِیْثًا ۙ وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ

د شپې | په ورځ باندې | چه د شپې نه ورپسې راځي | په منډه منډه | او نمر | او سپوږمۍ | او ستوري

تیاره باندې د ورځې رڼا پټوي ، په داسې شان چه (شپه په ورځ پسې) په منډه منډه راځي او نمر او سپوږمۍ او ټول

مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ؕ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ؕ تَبٰرَكَ اللّٰهُ

تابع دي | په حکم د هغه | واورئ ! | هم د هغه د پاره دي | پیدا کول | او حکم ورکول | ډیر برکت خاوند دے الله

ستوري د هغه د حکم تابع دي . خبر شئ چه ټول مخلوق هم د هغه دے او هم د هغه حکم پکښې چلیږي الله د برکتونو

رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۵۴﴾ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْیَةً ؕ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ

پروردګار دے د جهانونو | د بللئ | خپل رب | په عاجزۍ | او په پټه | بیشکه هغه | نه خوښوي

مالک دے د ټول مخلوق پالونکے دے . تاسو خپل رب ته په زارۍ او په پټه پټه خواست کوئ ، هغه د حد نه تیریدونکي

الْمُعْتَدِیْنَ ﴿۵۵﴾ وَلَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ

د حد نه تیریدونکي | او فساد مه خوروئ | په ځمکه کښې | پس | د سمیدو د دے نه | او بللئ هغه

خلق نه خوښوي . او د ځمکې په مخ د ښې وبست سمیدو نه پس فساد مه کوئ او الله تعالیٰ ته د

خَوْفًا وَّطَمَعًا ؕ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۵۶﴾

په ویره | او په امید سره | بیشکه | رحمت | د الله | نزدے دے | نیکي کوونکو ته

د ویرې او طمع ترمینځه خواست نه کوئ . بیشکه د الله تعالیٰ رحمت نیکانو خلقو ته ډیر نزدے دے .

وَهُوَ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ بُشْرًاۢ بَیْنَ یَدَیْ رَحْمَتِهٖ ؕ حَتّٰۤی

او دے هغه ذات دے | چه لیږي | هوا ګانې | زیرے ورکوونکي | وړاندې له رحمت (باران) خپل نه | تر دے چه

او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه د خپل رحمت (باران) نه وړاندې بادونه د زیري په طور رالیږي ، هرکله چه

اِذَآ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّیِّتٍ فَاَنْزَلْنَا

هرکله را اوچت کړي | دریځې | درنې | نو روانې کړو مونږ دا | طرف د یو ښار | مړه ته | بیا مونږ ورلوو

دا بادونه درنې دریځې اوچتې کړي نو مونږ هغې یو مړه (اوچ) علاقې ته ولیږو او باران

بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ كَذٰلِكَ

له هغه نه | اوبه | بیا مونږ را اوباسو | په دے سره | هر قسمه میوه | دغه شان

پرې ورووو ، بیا د دے په ذریعه هر قسم میوې پیدا کوو ، (یاد ساتئ) دغه شان مونږ

نُخْرِجُ الْمَوْتٰی لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَالْبَلَدُ الطَّیِّبُ یَخْرُجُ

مونږ به را اوباسو | مړي | د پاره د دے چه | تاسو نصیحت قبول کړئ | او ښار | پاک زرخیز | را اوځي

به مړي دوباره ژوندي کړو شاید چه تاسو ترے نه سبق واخلئ او آباده (سمسوره) ځمکه خپل شینکے د

نَبَاتُهٗ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۚ وَالَّذِیْ خَبُثَ لَا یَخْرُجُ اِلَّا نَکِدًا ؕ

زرغونه دَ هغې | دَ هغې دَ رب په حکم | او کومه (زمکه) | چه خرابه ده | نه راوځي (دَ هغې نه) | مګر ډیره کمه (زرغونه)

دَ خدائے په حکم راوټوکي او کومه (زمکه) چه خرابه وي هغې نه صرف بیکاره ذرې غوندې پیداکیږي

کَذٰلِکَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّشْکُرُوْنَ ﴿٥٨﴾ لَقَدْ

دغه شان | مونږ بیا بیا بیانوو | آیتونه | هغه خلقو دَ پاره | چه شکر ادا کوي | بیشکه

مونږ دغسے بیا بیا ځلے ځلے بیانوو هغو خلقو ته چه شکر ادا کوي . یقیناً مونږ

اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰی قَوْمِهٖ فَقَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

مونږ لیږلے وو | نوح | دَ هغهٔ قوم ته | پس هغهٔ ووئیل | اے زما قومه! | عبادت کوئ | دَ الله

نوح (علیه السلام) دَ هغهٔ خپل قوم ته ولیږلو نو ورته ئے ووئیل چه اے زما قومه! دَ الله تعالیٰ عبادت کوئ

مَا لَکُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ؕ اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَیْکُمْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿٥٩﴾

نشته دَ تاسو دَ پاره | څوک بل معبود | سوا دَ هغهٔ نه | بیشکه زهٔ | ویریږم | په تاسو باندې | له عذابه | دَ ورځې | لوئے نه

دَ هغهٔ نه سوا ستاسو بل معبود نشته ، ما سره ستاسو په حقله دَ لوئے ورځې دَ (هولناک) عذاب اندیښنه ده .

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖۤ اِنَّا لَنَرٰىکَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿٦٠﴾ قَالَ

ووئیل | سرداړانو | دَ هغهٔ دَ قوم نه | بیشکه | مونږ وینو تا | په ګمراهئ ښکاره کښې | هغهٔ ووئیل

دَ هغهٔ دَ قوم سردارانو ورته جواب ورکړو چه مونږ ته خو داسے ښکاري چه ته په ښکاره ګمراهئ کښې پروت یې ، نوح

یٰقَوْمِ لَیْسَ بِیْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰکِنِّیْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿٦١﴾

اے زما قومه! | نشته په ما کښې | څهٔ ګمراهي | او لیکن زهٔ خو | یو رسول یم | دَ پروردګار | دَ ټولو جهانونو

ووئیل اے زما قومه! ما کښې دَ ګمراهئ هیڅ خبره نشته بلکه زهٔ خو دَ ټولو جهانونو دَ پروردګار له طرف نه رالیږلے شوے یم

اُبَلِّغُکُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّیْ وَاَنْصَحُ لَکُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ

زهٔ رسوم تاسو ته | پیغامونه | دَ خپل رب | او نصیحت کوم | تاسو ته | او پوهیږم | دَ الله دَ طرف نه

تاسو ته دَ خپل پروردګار حکمونه رسوم ، او ستاسو خیرخواه یم او دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ما ته دَ هغو

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾ اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَکُمْ ذِکْرٌ مِّنْ رَّبِّکُمْ

په هغه څهٔ | چه تاسو پرې نهٔ پوهیږئ | آیا تاسو تعجب کوئ | چه راغے تاسو ته | نصیحت | ستاسو دَ رب له طرف نه

خبرو علم دے په کومو چه تاسو نهٔ پوهیږئ . آیا تاسو تعجب کوئ چه تاسو ته ستاسو دَ رب دَ طرف نه څهٔ دَ نصیحت خبره

عَلٰی رَجُلٍ مِّنْکُمْ لِیُنْذِرَکُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّکُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٦٣﴾

دَ یو سړی په (ذریعه) | له تاسو نه | چه هغه وویروي تاسو | او تاسو پرهیز شئ | او چه په تاسو | رحم وکړے شي

دَ داسے سړي په ذریعه راغلے ده چه هم له تاسو دے چه تاسو (دَ نافرمانئ دَ انجام نه) وویروي او تاسو پرهیزګاره شئ او په

فَکَذَّبُوْهُ فَاَنْجَیْنٰهُ وَالَّذِیْنَ مَعَهٗ فِی الْفُلْکِ وَاَغْرَقْنَا

بیا دوی هغه دروغژن ګڼړلو | نو مونږ خلاص ورکړو هغهٔ ته | او هغو ته چه دَ هغهٔ سره وو | په کشتۍ کښې | او مونږ غرق کړل

تاسو رحم وکړے شي بیا هغوی دَ هغهٔ نه پس هم نوح دروغژن وګڼړلو نو مونږ هغهٔ له او هغه خلقو له چه په کشتۍ کښې دَ هغهٔ سره سواره

ع ۸ ۱۵ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ ﴿۶۴﴾

هغه خلق چه | دروغ ئے وګڼړل | زمونږ ایتونه | بیشکه دوی | وو | قوم | ړانده ړه

وو خلاص ورکړه او چا چه زمونږ ایتونه دروغ ګڼړلی دو هغوی مو ډوب کړل، دوئ یقیناً (په زړونو) ړانده شری وو

وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۭ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او (وموليږلو قوم دَ) عادته | دَ دوی ورور | هود | دهٔ ووئیل | اے زما قومه! | عبادت وکړئ | دَ الله

او (دَ عادٔ) عاد طرف ته مونږ دَ دوی ورور هودٔ ولیږلو هغهٔ ورته ووئیل چه اے زما قومه! دَ الله تعالیٰ عبادت کوئ

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَالَ الْمَلَاُ

نشته دے تاسو له | څوک بل معبود | سوا دَ هغهٔ نه | پس ایا تاسو نهٔ ویریږئ | ووئیل | سردارانو

چه بے دَ هغهٔ نه ستاسو بل معبود نشته نو ایا تاسو دَ هغهٔ (دَ نافرمانئ نه) نهٔ ویریږئ؟ دَ قوم کافرو سردارانو ورته

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ سَفَاهَةٍ وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ

کوم چه | کفر وکړو | دَ هغهٔ له قوم نه | بیشکه مونږ وینو تا | په بے عقلئ کښے | او بیشکه مونږ ګمان کوو په تا

جواب ورکړو، چه مونږ ته خو داسے ښکاری چه ته په حماقت کښے پروت یې او زمونږ دا ګمان دے چه

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۶۶﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّيْ

له دروغژنو نه | هغهٔ ووئیل | اے زما قومه! | نشته دے ما کښے | څهٔ بے وقوفي | او لیکن زهٔ

ته په دروغژنو کښے شامل یې، هغهٔ ووئیل چه زما قومه! په ما کښے پوره قدر له کم عقلي هم نشته بلکه زهٔ خو

رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۷﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ

یو رسول یم | دَ ټولو جهانونو دَ پروردګار | زهٔ تاسو ته رسوم | پیغامونه | دَ خپل رب

دَ ټول کائنات دَ رب دَ طرف نه رالیږلے شوے یم. زهٔ تاسو ته دَ خپل پروردګار حکمونه در رسوم. او

وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿۶۸﴾ اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَاۗءَكُمْ ذِكْرٌ

او زهٔ یم ستاسو | خیرخواه | امانت دار | او ایا تاسو تعجب کوئ | چه راغے تاسو ته | نصیحت

زهٔ ستاسو رښتینے خیرخواه یم. ایا تاسو په دے خبره تعجب کوئ چه تاسو ته دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه

مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰي رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ۭ وَاذْكُرُوْٓا

ستاسو دَ رب له طرف نه | په یو سړی باندے | له تاسو نه | دَ پاره دَ دے چه ووېروی تاسو | او یاد کړئ

ستاسو په یو سړی باندے نصیحت راغے؟ چه تاسو دَ نافرمانئ دَ انجام نه وېروی. او یاد کړئ کله چه دَ نوح

اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاۗءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ

کله چه | هغهٔ جوړ کړئ تاسو | جانشینان | پس له | قومه | دَ نوح نه | او زیات ئے در کړو تاسو ته

دَ قوم نه پس هغهٔ تاسو جانشین مقرر کړئ، او په قد قامت (او طاقت) کښے

فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَاۗءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ

جسامت | لوئے | پس یاد کړئ | نعمتونه | دَ الله | دَ پاره دَ دے چه تاسو

ئے دَ نورو نه زیات کړئ، پس دَ الله تعالیٰ نعمتونه یاد کړئ چه په دنیا او اخرت

تُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ ٱللَّهَ وَحْدَهُۥ وَنَذَرَ

کامیاب شئ | دوی ووئیل | ایا ته را غلے یئ موږ ته | چه موږ عبادت وکړو | د الله | چه یوازے دے | او پریږدو

کئیے کامیاب شئ ۔ هغوی ورته ووئیل شه! ته موږ ته په دے پسے راغلے یئ چه موږ یوازے د الله تعالیٰ

مَا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا ۖ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

هغه | د کوم چه عبادت کولو | زموږ پلارنیکه | پس راوله په موږ | هغه (عذاب) | د کوم چه ته موږ سره وعده کوے

عبادت شروع کړو او د پلارنیکه نورتول معبودان پریږدو ۔ بنه ده! هغه عذاب اوس راوله چه موږ ترے نه ویروے

إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم

که چرے | ته یئے | له رښتیا ویونکو نه | هغه ووئیل | واجب شوے دے | په تاسو باندې

که چرے ته د رښتینو یئے ۔ هود ووئیل (که هم دا خبره دی نو) ستاسو د رب د طرف نه په تاسو

مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ۖ أَتُجَٰدِلُونَنِى فِىٓ أَسْمَآءٍ

ستاسو د رب له طرف نه | عذاب | او قهر | ایا تاسو جګړه کوئ ما سره | د هغه نامو (په حقله)

عذاب او غضب واقع شو ، ایا تاسو ما سره په داسے نومونو باندې جګړه کوئ

سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا

کوم نوم چه (ایښی دی) | تاسو | او ستاسو پلارانو | چه نه دے نازل کړے | الله | په هغے

چه تاسو او ستاسو پلارانو پخپله ایښی دی ، او الله تعالیٰ د هغے هیڅ سند نه دے

مِن سُلْطَٰنٍ ۚ فَٱنتَظِرُوٓا إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ

هیڅ سند | پس تاسو انتظار کوئ | زه (هم) تاسو سره | له انتظار کوونکو نه یم | پس خلاص کړو موږ هود ته

رالیږلے نو تاسو هم انتظار کوئ ، زه هم تاسو سره انتظار کوم ۔ نو موږ هغه او

وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا

او هغو ته چه | د هغه سره وو | په خپل رحمت سره | او پریکړله موږ | جرړه د هغو خلقو | چه دروغ ئے ګڼړل

او د هغه ملګری په خپل رحمت سره بچ کړل او د هغو خلقو جرړے مو پرے کړے چه زموږ ایتونه ئے

بِـَٔايَٰتِنَا ۖ وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۗ

زموږ ایتونه | او دوی نه وو | ایمان راوړونکی | او د ولیږلو قوم د ثمود ته | د دوی ورور | صالح

دروغ ګڼړل او هغوی هیڅ کله ایمان نه راوړی ، او ثمود یانو ته مو د هغوی ورور صالح علیه السلام ولیږلو

قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم

هغه ووئیل | اے زما قومه! | عبادت کوئ د الله | چه نشته د تاسو | څوک بل معبود | د هغه نه سوا | راغلے دے تاسو ته

هغه ورته ووئیل چه اے زما قومه! صرف د الله عبادت کوئ هغه نه بغیر ستاسو بل معبود نشته ۔ تاسو ته د خپل

بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ

دلیل | له طرفه د رب ستاسو | دا | اوښه د الله | تاسو د پاره | یوه نخښه ده

رب د طرف نه څرګند دلیل راغلے دے ، دا د الله تعالیٰ د نامے اوښه تاسو د پاره نخښه ده ، نو

فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِيٓ أَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ

پس پرېږدئ دا | (چه) خوربېږي | د الله په زمکه کښې | او مه وروړئ لاس دې ته | په خراب (نیت) سره

دا پرېږدئ چه د الله تعالی په زمکه خوراک کوی او په بد نیت ورته لاس مه وروړئ ،

فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَاذْكُرُوٓا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ

گنې ونه نیسي تاسو | عذاب | دردناک | او یاد کړه | کله چه هغهٔ جوړ کړئ تاسو | جانشینان

گنې دردناک عذاب به مو راونیسي ۔ او هغه وخت یاد کړئ چه د عاد نه پس ئې تاسو جانشین

مِنْ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي الْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِنْ سُهُولِهَا

پس | د قوم د عاد نه | او آباد ئې کړئ تاسو | په زمکه کښې | چه تاسو جوړوئ | د دې په هوارو میدانونو کښې

مقرر کړئ ، او په زمکه کښې ئې تاسو له ځائې درکړو چه د دې په میدانونو کښې تاسو ځان

قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ الْجِبَالَ بُيُوتًا ۚ فَاذْكُرُوٓا آلَآءَ اللّٰهِ

محلونه | او تراشئ | د غرونو نه | کورونه | پس یاد کړئ | نعمتونه د الله

له ماڼئ جوړوئ او په غرونو کښې ئې ځان له کورونه تراشئ ، نو د الله تعالی نعمتونه یاد کړئ

وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا

او مه گرځئ | په زمکه کښې | فساد کوونکي | دوئیل | سردارانو | هغو کومو چه | تکبر وکړو

او د زمکې په مخ فساد مه کوئ ۔ نو د هغهٔ د قوم مغرورو سردارانو د هغه

مِنْ قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ

د دهٔ د قوم | هغو خلقو ته | چه کمزوری گڼلې شول | خاص هغه چا ته چه ایمان ئې راوړے وو | له دوی نه

کمزورو خلقو ته چه ایمانونه ئې راوړی وو تپوس وکړو ، آیا تاسو ته

أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صٰلِحًا مُرْسَلٌ مِنْ رَبِّهِ ۚ قَالُوٓا إِنَّا

آیا تاسو پوهېږئ چه بېشکه | صالح | رالېږلے شوے دے | د خپل رب له طرف نه | دوئیل دوی | بېشکه مونږ

معلومه ده چه صالح علیه السلام واقعی د خپل رب له طرف نه رالېږلے شوے دے؟ هغوی وویل چه بېشکه

بِمَآ أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا إِنَّا

په هغه څه چه دے رالېږلے شوے په هغې | ایمان لرو | دوئیل | هغو خلقو چه | کبر ئې وو | بېشکه مونږ

د کومو حکمونو سره چه هغه رالېږلے شوے دے مونږ په هغې ایمان لرو ، مغرورو خلقو وویل چه په کومه خبره

بِالَّذِيٓ آمَنْتُمْ بِهِ كٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُوا النَّاقَةَ

له هغه خبرے نه | په کومه چه تاسو ایمان راوړے دے | انکار کوونکي یو | پس دوی ووژله | هغه اوښه

تاسو ایمان راوړے دے مونږ خو د هغې نه انکار کوو ، غرض دا چه هغوی هغه اوښه ووژله

وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يٰصٰلِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

او سرکشي ئې وکړه | د خپل رب د حکم نه | او دوی وویل | اے صالحه! | راوله په مونږ | هغه څه | د کوم نه چه ته مونږ وېروې

او د خپل رب د حکم نه ئې سرکشي وکړه او دوی وویل اے صالحه! که چرے ته واقعی رسول ئې

إِن كُنتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا

کنچیرې | یې ته | له پیغمبرانو نه | پس ونیول دوی | زلزلے | پس شول دوی

نو د کوم عذاب چه ته وعده کوے هغه راوله ، نو هغوی ناڅاپه سخت زلزلے ونیول ، او په خپلو کورونو

فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ

په خپلو کورونو کښې | پریوتي پراته | پس مخ ئے واړولو | له دوی نه | او وئے وئیل | اے زما قومه!

کښې پریوتي پراته پاتے شول ، نو هغه وخت صالح ترے نه مخ واړولو او وئے وئیل اے زما قومه!

لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن

بیشکه ما ورسولو تاسو ته | پیغام | د خپل رب | او نصیحت مې وکړو | تاسو ته | لیکن

ما خو تاسو ته د خپل خدائے حکمونه رارسولي وو ، او ستاسو خیرخواهي مې کړے وه خو خیرخواه

لَّا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ ﴿٧٩﴾ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ

نه خوښوئ تاسو | نصیحت کوونکي | او (مونږ لیږلو) لوط | کله چه هغه ووئیل | خپل قوم ته | آیا تاسو کوئ

خلق ستاسو هډو خوښ نه وي ، او مونږ لوط علیه السلام ولیږلو کله چه هغه خپل قوم ته ووئیل آیا تاسو دا

الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَالَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ

(هغه) بے حیائي | چه نه ده کړے وړاندې له تاسو | چا (هم) | له عالمونو نه | بیشکه تاسو | راځئ

د بے حیائي کار کوئ چه له تاسو نه وړاندې په ټوله دنیا کښې چا نه دے کړے ؟ تاسو د ښځو په

الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ

سړو ته | په شهوت سره | د ښځو نه | سوا | بلکه | تاسو یئ

ځائے نارینه هلکانو سره خپل شهوت پوره کوئ ، بلکه تاسو د حد نه

قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا

خلق | حد نه تیریدونکي | او نه ؤ | جواب | د ده د قوم | مګر دا چه | دوی ووئیل

تیریدونکي خلق یئ ، پس د ده د قوم جواب د دے نه سوا بل نه وو چه په خپل مینځ کښے ئے ووئیل

أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾

اوباسئ دوی | د خپل کلي نه | بیشکه دوی | دا ےخلق دي | چه پاکیزګي غوښتونکي دي

چه دوی د خپل کلي نه اوباسئ ، ځکه چه دوی ځان ډیر پاک ساتل غواړي۔

فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٨٣﴾

پس مونږ نجات ورکړو ده ته | او د ده کوروالو ته | سوا | د ده د ښځے نه | چه وه | (شامله) د روستو پاتے کیدونکو کښے

نو مونږ هغه او د هغه کورنئ بچ کړل خو ښځه ئے بچ نه شوه ځکه چه هغه په روستو پاتے کیدونکو کښے شامله

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾

او ووروولو مونږ | په دوی باندې | باران (د کاڼو) | پس وګوره | چه څنګه | شو | انجام | د مجرمانو

وه او مونږ په هغوی باندې (د کاڼو) باران ووروولو نو وګوره چه د مجرمانو انجام څنګه شو ؟

١٠ ع ١٢ ١٧

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ
او (مو لیږلو) قوم دَ مدین ته | دَ دوی ورور | شعیب | ده وویل | اے زما قومه! | عبادت وکړئ | دَ الله
او دَ مدین خلقو ته مو دَ هغوی ورور شعیب ولیږلو، هغهٔ ورته وویل چه اے زما قومه! هم دَ الله عبادت

مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ قَدْ جَاءَتْكُم بَيِّنَةٌ
نشته دے تاسو دَپاره | هیڅوک معبود | بے له ده نه | بیشکه راغلے دے تاسو ته | یو (واضح) دلیل
کوئ، دَ هغهٔ نه بغیر ستاسو بل معبود نشته ، تاسو ته دَ خپل رب دَ طرفه ښکاره دلیل

مِّن رَّبِّكُمْ ۖ فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ
له رب ستاسو نه | پس پوره کوئ | پیمانه | او تله | او کم مهٔ ورکوئ | خلقو ته
راغلے دے ، نو پیمانه او تول پوره پوره کوئ او خلقو ته دَ هغوی څیزونه

أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ
دَ دوی څیزونه | او فساد مهٔ کوئ | په زمکه کښے | پس دَ دے دَ اصلاح نه | دا کار
کم مهٔ ورکوئ ، او دَ حالت سمیدو نه پس دَ مزکے په مخ فساد مهٔ کوئ دا خیره

خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ
غوره دے | تاسو له | که چرے یئ تاسو | مئومنان | او مهٔ کښینئ | په هره لاره
درله ډیره ښهٔ ده که چرے یئ تاسو مؤمنان . او په هره یوه لاره مهٔ کښینئ

تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ
چه تاسو ویروئ | او تاسو منع کوئ | دَ الله دَ لارے نه | هغه څوک | چه ایمان ئے راوړو | په هغه
چه خلق ویروئ او چا چه ایمان راوړے دے هغوی دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه منع کوئ

وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوا إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ
او لټوئ په هغے کښے | خرابی | او یاد کړئ | کله چه وئ تاسو | لږ | بیا هغهٔ زیات کړئ تاسو
او په دے کښے عیب لټوئ ، او هغه وخت یاد کړئ کله چه تاسو په لږ تعداد کښے وئ او هغهٔ تاسو زیات کړئ

وَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ طَائِفَةٌ
او غور وکړئ | څنګه | شو | انجام | دَ فساد کوونکو | او که چرے | وه | یوه ډله
او (دے خبرے ته هم) وګورئ چه دَ فساد کوونکو انجام څنګه شو ؟ او که په تاسو کښے یوے ډلے

مِّنكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ وَطَائِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا
له تاسو نه | چه ایمان ئے راوړو | په هغه څهٔ | چه زه لیږلے شوے یم زهٔ په هغے | او یوے ډلے | ایمان نهٔ دے راوړے
په هغه تعلیم باندے چه ما ته راکړے شوے دے ایمان راوړے دے او بله ډله پرے نهٔ دے راوړے

فَاصْبِرُوا حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿٨٧﴾
نو صبر وکړئ | تر دے چه | فیصله وکړی | الله | زمونږ مینځ کښے | او هغه | دَ ټولو نه ښهٔ | فیصله کوونکے دے
نو لږ صبر وکړئ چه الله تعالیٰ زمونږ تر مینځه فیصله وکړی او هغه ډیر ښهٔ فیصله کوونکے دے

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ډاکټر محمد دین

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ

وويل | سردارانو | كوم چه | كبرژن وو | دَ هغهٔ له قوم نه | چه موږ به خامخا اوباسو تا

دَ دوى دَ قوم مغروره سردارانو ووئيل چه اے شعيبه! موږ به تا او تاسره

يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ

اے شعيب! | او هغه خلق | چه ايمان ئے راوړے دے | تاسره | دَ خپل کلى نه | يا به واپس راځئ تاسو

مؤمنان يقيناً دَ خپل کلى نه بهر اُوباسو ، او يا به تاسو زموږ

فِىْ مِلَّتِنَا ؕ قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ۟ؕ ٨٨ قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ

زموږ په دين کښے | دهٔ ووئيل | آيا اگر که يُو موږ اِبا کوونکى | بيشکه تړلے به وى موږ | په الله باندے

مذهب ته واپس راشئ شعيب ورته ووئيل چه ايا کهٔ موږ دا نهٔ خوښوو بيا هم؟ بيا خو به بيشکه موږ په الله تعالىٰ

كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِىْ مِلَّتِكُمْ بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ؕ

دروغ | که چرے موږ واپس شو | ستاسو په دين کښے | پس (له دے نه) | چه نجات راکړے دے موږ ته | الله | له دے نه

باندے دروغ تړلى وى که چرے موږ ستاسو دين ته بيا واپس شو ، سره دَ دے چه الله تعالىٰ تړے نه راله

وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ

او نهٔ دهٔ ممکن موږ له | چه موږ واپس شو | په دے کښے | مگر | دا چه وغواړى | الله | رب زموږ

خلاصے راکړے دے او اوس خو دا سے واپس کيدل راله ممکن نهٔ دى ، مگر دا چه الله زموږ رب وغواړى

وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ؕ رَبَّنَا

احاطه کړے دهٔ | زموږ رب | دَ هر څيز | په علم سره | هم په الله باندے | زموږ توکل دے | اے زموږ ربه!

زموږ دَ رب علم په هر څيز باندے چاپيره دے ، په الله تعالىٰ باندے زموږ توکل دے ، اے زموږ ربه!

افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ۟ ٨٩

فيصله وکړه | زموږ او زموږ دَ قوم په مينځ کښے | په انصاف سره | او هم تهٔ | دَ ټولو نه ښهٔ فيصله کوونکے يے!

زموږ او زموږ دَ قوم ترمينځه په حقه فيصله وکړه ، او تهٔ دَ ټولو نه ښهٔ فيصله کوونکے يے .

وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا

او ووئيل | سردارانو | کوم چه کفر وکړو | دَ دهٔ له قوم نه | که چرے تاسو تابعدارى وکړه | دَ شعيب

نو دَ هغهٔ دَ قوم انکار کوونکو سردارانو (دَ خپل قوم ته) ووئيل که تاسو شعيب پسے روان شوئ

اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۟ ٩٠ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِىْ دَارِهِمْ

نو بيشکه تاسو به | هغه وخت | نقصان موندونکى يئ | پس ونيول دوى | زلزلے | نو دوى شول دَ صبا | په خپلو کورونو کښے

نو خامخا برباد به شئ . بيا دوى زلزلے ونيول . نو په خپلو کورونو کښے پريوتى

جٰثِمِيْنَ ۟ۚۛ ٩١ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۚۛ

پريوتى پراته | کوم چه | دروغ وگڼلو | شعيب | لکه چه دوى هيڅ اوسيدلى نهٔ وو | په دے کښے

پريوتل ، چا چه شعيب دروغژن وگڼلو هغوى داسے شول لکه چه په دے کلو کښے هيڅ اوسيدلى نهٔ وو

الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ ﴿٩٢﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ

ډ هغوی نه | بیا واپس شو | زیان کاران | وو دوی | شعیب | دروغژن کړلو | کوم چه

چا چه شعیب ته دروغژن وویل ، هغوی بخپله برباد شول . نو شعیب تړے مخ وګرځولو

وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ

تاسو ته | او نصیحت مې کړے دے | ډ خپل رب | پیغامونه | بیشکه ما درسولی دی تاسو ته | اے زما قومه ! | او وے وئیل

او ورته ئے ووئیل چه اے زما قومه ! ما تاسو ډ خپل رب حکمونه درسولی دو او ستاسو خیرخواهی مې غوښتے

فَكَيْفَ آسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَافِرِينَ ﴿٩٣﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ

په هیڅ کلی کښے | او نه دے لیږلے مونږ | په کافر قوم باندې | زه افسوس وکړم | پس څنګه

ع ۱۱ ۹ ۱

وه نو اوس زه څنګه ډ هغے قوم په حال افسوس وکړم چه منونکی نه دو . او هر کله چه مونږ یو کلی ته یو پیغمبر

مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَخَذْنَا أَهْلَهَا بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ

چه دوی | او تکلیف سره | په سختی | اوسیدونکی ډ هغے | ونیول مونږ | مګر | څوک پیغمبر

لیږلے دے نو اول مو ډ هغے اوسیدونکی په سختئ او په تکلیف کښے راګیر کړی دی ډ پاره ډ دے چه عاجزی

يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَوْا

ډیر شول دوی | تر دے چه | راحت | ډ سختئ په ځائے | بیا بدل کړو مونږ | زاری وکړی

اختیار کړی . بیا مونږ ډ هغوی بدحالی په خوشحالی بدله کړه تر دے چه هغوی ښه ترقی وکړه

وَقَالُوا قَدْ مَسَّ آبَاءَنَا الضَّرَّاءُ وَالسَّرَّاءُ فَأَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً

ناګهانه | بیا مونږ ونیول دوی | او راحت | سختی | زمونږ پلارانو ته | بیشکه رسیدلے ده | او دوی ووئیل

او دائے ووئیل چه زمونږ په پلار نیکه هم داسے سختی او راحت راغلے دے بیا مونږ دوی ناګهانه ونیول

وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩٥﴾ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا

نو مونږ به پرانستلی وو | او پرهیزګاری ئے کړے | ایمان راوړے | ډ کلو اوسیدونکو | او که چرے | بے خبره وو | او دوی

او دوی ته (ډ دے عذاب) خبر هم نه وو . او که ډ دغه کلو خلقو ایمان راوړے او ځان ډ ګناهونو نه ئے ګوړلے نو مونږ به

عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ

نو مونږ ونیول دوی | لیکن دوی دروغ وګڼړل | او زمکے | ډ اسمان | له طرفه | برکتونه | په دوی باندې

په دوی باندې ډ آسمان او زمکے دواړو نه برکتونه رامبیره کړی وُو لیکن دوی (زمونږ تعلیم) دروغ وګڼړلو نو

بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾ أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ

اوسیدونکی ډ کلو | پس آیا په امن شول | چه دوی به کول | په بدله ډ هغو (عملونو) کښے

مونږ دوی ډ خپلو عملونو په سزا کښے راونیول . آیا ډ کلو خلق ډ دے خبرے نه بے غمه

أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَأَمِنَ

آیا په امن شول | اُوده وی | او دوی | ډ شپے | زمونږ عذاب | په دوی باندې | له دے نه چه راشی

شوی دی چه شپه په شپه په دوی باندې زمونږ عذاب راشی او دوی اُوده وی . آیا ډ کلو خلق په دے

أَهْلُ الْقُرَىٰٓ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩٨﴾

اوسیدونکي دَ کلو | له دے نه چه راشي دوی ته | عذاب زمونږ | دَ څاښت په وخت | او دوی | لوبے کوي

حقله بے غمه شوی دی چه زمونږ عذاب ورته دَ غرمے راشي چه دوی بے خبره لګیا وی لوبے کوي.

أَفَأَمِنُوا۟ مَكْرَ ٱللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴿٩٩﴾

آیا په امن شول | دَ الله دَ تدبیرنه | پس نه په امن کیږی | دَ الله دَ تدبیرنه | مګر خو | نقصان موندونکي خلق.

آیا دا خلق دَ الله دَ تدبیرنه بے ویرے شول؟ خو (یاد ساتئ) چه دَ الله دَ پټوتدبیرونو نه هغه خلق بے فکره کیږی چه تباه کیدونکي

أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِ أَهْلِهَآ

او آیا نه ده | کړے رهنمائی | دَ هغو خلقو | چه وارثان شول | دَ زمکے | پس له هلاکیدو دَ اوسیدونکو دَ دے

دی. آیا دے واقعاتو هغو کسانو ته چه دَ پخوانو اوسیدونکو نه پس دَ ملک وارثان شوی دی هیڅ سبق ورنه کړو

أَن لَّوْ نَشَآءُ أَصَبْنَـٰهُم بِذُنُوبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ

چه که چرے | غوښتے وے مونږ | نو مصیبت به مو غورزولے وو په دوی | دَ دوی دَ ګناهونو په بدله کښے | او مهر مو وهلو

چه که چرے مونږ غوښتے نو دَ دوی دَ ګناهونو په وجه به مو دوی په عذاب کښے نیولی وو او په زړونو

عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ تِلْكَ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ

دَ دوی په زړونو | پس دوی | نه اوری | دا کلی دی | چه مونږ اورَوُو | تا ته

به ورله تاپه ولګوو پس دوی (دَ نصیحت خبره هم) نه آوری. (اے پیغمبره!) دا یو څو کلی دی دَ کوم حالات چه مونږ

مِنْ أَنۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَمَا كَانُوا۟

دَ دے (څه) احوال | او بیشکه راغلی وُو دوی ته | پیغمبران دَ دوی | (واضح) دلیلونو سره | بیا دوی داسے نه وُو

تا ته بیانوو او یقینًا دے خلقو ته دَ دوی پیغمبران معجزو سره راغلی وُو، خو دوی چه کومه خبره

لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ

چه ایمان ئے راوړے وے | په دے وجه چه دروغژن ګڼلی وو | له دے نه وړاندے | دغه شان | مهر وهي | الله | په زړونو

یو ځل دروغ ګڼلے وه هغے ئے بیا ونه منله. هم دغه شان الله تعالیٰ دَ کافرانو په زړونو

ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ عَهْدٍ ۖ وَإِن وَجَدْنَآ

دَ کافرانو | او ونه موندله مونږ | په اکثرو دَ دوی کښے | وفا په وعده | او بیشکه وموندل مونږ

مهر لګوی. او مونږ په دوی کښے اکثر خلق بے لوظه موندلی دی او اکثر کسان مو ډیر

أَكْثَرَهُمْ لَفَـٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَـٰتِنَآ

اکثر له دوی نه | نافرمان | بیا مونږ ولیږلو | له دوی نه پس | موسیٰ | خپلو نخښو سره

نافرمانه (او بدعمله) بیا موندلی دی. بیا دَ دوی نه پس مو موسیٰ علیه السلام دَ خپلو نخښو سره فرعون

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ

فرعون ته | او دَ ده سردارانو ته | پس دوی ناانصافي وکړه | دَ دے نخښو سره | پس وګوره | څنګه | شو

او دَ ده سردارانو ته ولیږلو نو هغوی زمونږ دَ نخښو سره زیاتے وکړو، نو وګوره چه دَ مفسدانو انجام

عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٠٣﴾ وَقَالَ مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ

انجام | دَ فساد کوونکو | او ووئیل | موسیٰ | اے فرعونه | بیشکه زهٔ | رسول یم

څهٔ شو ؟ او موسیٰ ورته ووئیل اے فرعونه ! زهٔ دَ ټول مخلوق دَ رب له

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ

دَ جهانونو دَ پروردګار | ماله مناسب دي | چه بیان نهٔ کړم | په الله باندې | مګر رښتیا خبره

طرف نه پیغمبر راغلے یم ۔ ماته پاره هم دا مناسب دی چه دَ الله تعالیٰ په حقله هغه خبره وکړم چه رښتونی

قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِيَ

ما راوړے دے تاسو ته | واضحه دلیل | ستاسو دَ رب له طرف نه | پس ولیږه | ماسره

وی ، تاسو ته م ستاسو دَ رب دَ طرف نه واضحه دلیلونه راوړی دی ، نو ته بنی اسرائیل ماسره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٠٥﴾ قَالَ اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ

بنی اسرائیل | دهٔ ووئیل | کهٔ چرے تا | راوړی وی | څهٔ معجزه | نو راوړه | هغه

رخصت کړه ۔ فرعون جواب ورکړو چه کهٔ تا څهٔ نخښه راوړی دی نو هغه وښایه کهٔ ته

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٠٦﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ

کهٔ چرے ته یې | له رښتیا ویونکو نه | پس وغورزوله ده | همسا خپله | نو فوراً هغه | اژدها (شوه)

(په خپله دعویٰ کښې) رښتینے یې ۔ په دے خبره موسیٰ خپله کونتۍ وغورزوله نو هغه یوه ژوندۍ

مُّبِيْنٌ ﴿١٠٧﴾ وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٠٨﴾ قَالَ

ښکاره | او راوویستلو دهٔ | لاس خپل | نو فوراً هغه (ځلانده شو) | روښانه | لیدونکو ته | دُ ووئیل

اژدها شوه او لاس ئے (دَ بغل نه) راوویستلو نو هغه دَ ټولو لیدونکو په وړاندې تک سپین پرقیده . دَ فرعون

الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿١٠٩﴾ يُّرِيْدُ اَنْ

سردارانو | دَ قوم دَ فرعون نه | چه بیشکه دا خو | جادوګر دے | پوهه | دے غواړی | چه

دَ قوم سردارانو ووئیل چه بیشکه دا خو دَ لوئے علم خاوند جادوګر دے ۔ دے غواړی چه

يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿١١٠﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ

اُوباسی تاسو | ستاسو له زمکے نه | پس څهٔ حکم کوئ تاسو | دوی ووئیل | مهلت ورکړه دهٔ ته

تاسو ستاسو دَ ملک نه بهر اُوباسی وداینې چه په دے حقله ستاسو څهٔ صلاح ده ۔ دوی ووئیل چه موسیٰ

وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿١١١﴾ يَاْتُوْكَ

او دَ دهٔ ورور ته | او | ولیږه | په ښارونو کښې | جمع کوونکی | چه دوی راولی تا ته

او دَ دهٔ ورور ته مهلت ورکړه او ټولو ښارونو ته کارندګان ولیږه ۔ چه ټول پوهه جادوګران

بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿١١٢﴾ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا

هر جادوګر | پوهه | او راغلل | جادوګر | فرعون ته | دوی ووئیل | بیشکه مونږ له اجر یکار دے

درله راټول کړی ۔ او جادوګر دَ فرعون (دربار) ته راغلل ، دوی ووئیل کهٔ چرے مونږ غالب شو

إِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۱۱۴﴾

كه چيرې شو | موږ غالب | ده ووئيل | هو ! | او بېشكه تاسو به يئ | له نزديكانو څخه

نو موږ ته به څه انعام ملاويږي؟ فرعون ووئيل هو! او تاسو به په نزديكانو (درباريانو) كښې شامل شئ.

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى إِمَّآ أَنْ تُلْقِيَ وَإِمَّآ أَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾

دوئ ووئيل | اے موسیٰ | يا خو | ته وغورزوه | او يا | به شو موږ | غورزوونكي

جادوګرو ووئيل اے موسیٰ! اول ته غورزوے كه موږ (خپل پړی) وغورزوو ؟

قَالَ أَلْقُوْا ۚ فَلَمَّآ أَلْقَوْا سَحَرُوْٓا أَعْيُنَ النَّاسِ

موسیٰ ووئيل | تاسو وغورزوئ | پس هر كله چه | دوئ وغورزول (خپل څيزونه) | نو جادو ئې وكړو | په سترګو | د خلقو

موسیٰ ووئيل چه اول تاسو وغورزوئ . نو هر كله چه هغوی (خپل څيزونه) وغورزول نو د خلقو نظربندی ئې وكړه

وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۱۶﴾ وَأَوْحَيْنَآ إِلٰى مُوْسٰٓى

او ئې ويرول دوی | او راوړې ئې | جادو | ډير لوئے | او وحی راولیږله موږ | موسیٰ طرف ته

او په خلقو ئې هيبت راوستلو او هغوی ډير لوئے جادو وكړو . او موږ موسیٰ ته وحی وكړه چه خپله

أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ فَوَقَعَ

چه وغورزوه | خپله همسا | نو فوراً به هغه | تيركړي | څه چه | دوی جوړول | پس ثابت شو

همسا وغورزوه ، نو ناګهانه هغه دا څيزونه تيرول شروع كړل ، نو حق ثابت

الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا

حق | او باطل شول | هغه څه چه دوی كول | پس دوئ مغلوب شول | په دغه ځائے كښې | او واپس شول

شو او د هغوی جوړكړي څيزونه ټول باطل شول. نو په دغه موقع هغوی لاندې راغلل او

صٰغِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

ذليله | او وغورزيدل | جادوګر | په سجده كښې | دوی ووئيل | موږ ايمان راوړو

په ملامتيا واپس شول. او جادوګر (بے اختياره) په سجده پريوتل . دوئ ووئيل چه موږ په

بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ

په پروردګار د عالمونو | چه رب دے د موسیٰ | او د هارون | ووئيل فرعون | تاسو ايمان راوړو په هغه

رب العلمين ايمان راوړو چه د موسیٰ او د هارون عليهما السلام رب دے. فرعون ووئيل چه تاسو زما د اجازت

قَبْلَ أَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ إِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِي الْمَدِيْنَةِ

وړاندې د دې نه چه | زه اجازت دركړم | تاسو ته | بېشكه دا خو | يو چال دے | چه تيار كړے دے تاسو | په دے ښار كښې

نه وړاندې ايمان راوړو ، دا خو ستاسو يو چال دے چه تاسو په دے ښار كښې ځكه وچلولو

لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ أَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ لَأُقَطِّعَنَّ

چه اوباسئ تاسو | له دے ښار نه | د دے اوسيدونكي | پس زر به تاسو ته معلومه شي . | خامخا به پريكړم زه

چه د دے ښار اوسيدونكي د دے ځائے نه بهر اوباسئ پس زر به تاسو ته (د دے نتيجه) معلومه شي. زه به ستاسو لاسونه

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۲۴﴾

ستاسو لاسونه | او ستاسو پښې | دَ مخالف طرف نه | بیا | به په سولئ کړم تاسو | ټول

او پښې دَ مخالفو اړخونو نه پرې کړم بیا به تاسو ټول په سولئ دَ خیژوم ۔

قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ

دوی وویل | بیشکه مونږ | خپل رب طرف ته | واپس تلونکی یُو | او ته بد نه ګڼې | له مونږ نه | مګر دا چه

هغوی وویل چه مونږ ټول خو خپل رب ته واپس تلونکی یُو ۔ او ته خو مونږ نه دومره خبره بدې له اخلې چه مونږ دَ

اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۭ رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا

مونږ ایمان راوړو | په نخښو دَ رب خپل | هر کله چه هغه را غلے مونږ ته | اے زمونږه ربه! | را واړوه | په مونږ باندې

خپل رب په نخښو (ولې) ایمان راوړے دے هر کله چه مونږ ته را ورسیدے، اے زمونږ ربه! مونږ له صبر را کړه

صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ

صبر | او وفات را کړه مونږ ته | دَ اسلام په حالت کښې | او وویل سردارانو | دَ فرعون له قوم نه

او مونږ له دَ اسلام په حالت کښې مرګ راولے ۔ او دَ فرعون دَ قوم سردارانو وویل چه آیا ته به موسیٰ

اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ لِيُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ وَيَذَرَكَ

آیا ته پریږدې | موسیٰ | او دَ ده قوم | چه فساد وکړی | په زمکه کښې | او پریږدی تا

او دَ ده قوم بنی اسرائیل (دے ته) پریږدې چه په ملک کښې بدامنی پیدا کړی او تا او ستا معبودان

وَاٰلِهَتَكَ ۭ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۚ

او ستا معبودان | ده وویل | مونږ به ووژنو | ځامن دَ دوی | او ژوندۍ به پریږدو | ښځې دَ دوی

پریږدی ۔ فرعون ورته وویل چه مونږ به ډیر زر دَ دوی ځامن ووژنو او لونړه به ئے ژوندۍ پریږدو

وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ

او بیشکه مونږ | په دوی باندې | غالب یُو | وویل | موسیٰ | خپل قوم ته | تاسو مدد غواړئ | دَ الله نه

او یقیناً مونږ په دوی باندې غالب یُو ۔ موسیٰ خپل قوم ته وویل چه تاسو دَ الله نه مدد غواړئ

وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ڐ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۭ

او صبر کوئ | بیشکه | زمکه | دَ الله ده | هغه وارثان کوی ددې | هغه څوک چه دَ ئے وغواړی | له خپلو بندګانو نه

او صبر کوئ ۔ بیشکه زمکه صرف دَ الله تعالیٰ ده ، هغه په خپلو بندګانو کښې چه چا له ئے خوښه وی هغوئ له ئے

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا

او انجام (خو) | دَ پرهیزګارانو دَ پاره دے | دوی وویل | مونږ ته تکلیف ورکړے شو | وړاندې | له راتللو ستا نه مونږ ته

ورکوی ، او آخر کښې کامیابی دَ پرهیزګارانو ده ۔ دَ موسیٰ دَ قوم خلقو وویل چه مونږ به ستا دَ راتلو نه وړاندې هم تنګولے

وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۭ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَ

او پس له هغه نه چه را غلے ته مونږ ته | ده وویل | اُمید دے | چه رب ستاسو | به هلاک کړی | دښمن ستاسو | او

شو او ستا دَ راتلو نه پس هم عذابیږو ۔ موسیٰ وویل زر به ستاسو خدائے ستاسو دښمن هلاک کړی ، او

يَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٩﴾ وَلَقَدْ اَخَذْنَآ

خلیفه ګان به کړي تاسو | په ځمکه کښې | بیا به هغه ګوري | چه څنګه | تاسو عمل کوئ | او بیشکه | نیولي وو مونږ

او تاسو به د دے ځمکے په مخ خلیفه ګان کړي او بیا دا به ګوري چه تاسو څنګه کاروبار کوئ. او مونږ د فرعون قوم

اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿١٣٠﴾

قوم د فرعون | په قحطونو | او نقصان کښې | د میوو | چه دوي | نصیحت قبول کړي.

څو څو کاله په سوکړه او د پیداوار د کمي په عذاب کښې راونیول چه دا خلق نصیحت حاصل کړي.

فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ

پس هر کله چه | به راتله دوي ته | فراخي | نو دوي به وئیل | (چه) دا زمونږ حق دے | او که چرے | رسیدله به دوي ته

نو چه به څه وخت به پرے راغے نو هغوي به وئیل چه دا خو زمونږ خپل حق دے او چه بد حال به پرے

سَيِّئَةٌ يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗ ۗ اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ

سختي | نو سپیره به ئے ګڼړل | موسیٰ | او هغوی چه د هٔ سره دو | واورئ | چه بیشکه | د دوي بد نصیبي

راغے نو موسیٰ علیه السلام او د هغهٔ ملګري به ئے سپیره ګڼړل ۰ د دوي خپل سپیره توب خدائے سره

عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوْا مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ

د الله سره ده | لیکن | اکثر د دوي | نهٔ پوهیږي | او دوي وئیل | هر څهٔ چه | ته راوړے مونږ ته د کوم

(د دے باعث) دے خو اکثر خلق په دے خبره هم نهٔ پوهیدل. د فرعون قوم ووئیل چه کهٔ ته مونږ ته

مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا ۙ فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٢﴾ فَاَرْسَلْنَا

له نخښو نه | چه ته جادو وکړے په مونږ | په د څه سره | نو مونږ نهٔ یو | په تا باندې | ایمان راوړونکي | پس راولیږل مونږ

په مونږ د جادو چلولو په غرض هر څو مره نخښے پیش کړے خو مونږ به تا ایمان نهٔ راوړو نو مونږ په هغوي

عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ

په دوي باندې | طوفان | او ملخان | او سپږے | او چینده ګے | او وینه | نخښے دے

باندې طوفان راولیږلو او ملخان او سپږے او چینده ګے او وینه دا ټولے نخښے مو

مُّفَصَّلٰتٍ ۫ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ

جُدا جُدا | نو دوي کبر وکړو | او دوي وو | خلق | مجرمان | او هر کله چه | به پریوتلو

جُدا جُدا اوښودلے، نو هغوي تکبر وکړو او هغه د مجرمانو قوم وو. او هر کله چه به په هغوي

عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا

په دوي باندې | عذاب | (نو) وئیل به ئے | اے موسیٰ | دُعا وکړه | مونږ د پاره | د خپل رب نه | په دے وجه چه

عذاب راغے نو هغوي به وئیل چه اے موسیٰ! مونږ د پاره د الله نه سوال وکړه لکه څنګه چه

عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ

هغهٔ وعده کړې | تا سره | که چرے | لرے کړو تا | له مونږ نه | عذاب | نو مونږ به خامخا ایمان راوړو

تا سره ئے وعده کړے ده کهٔ تا مونږ نه دا عذاب لرے کړو، نو مونږ به در باندې خامخا

لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ
په تا | او خامخا به ولیږو | تا سره | بنی اسرائیل | پس هر کله چه | لرې به کړو موږ | له دوی نه
ایمان راوړو او بنی اسرائیل به درسره رخصت کړو ، بیا کله چه موږ د دوی نه دغه عذاب یو خاص
الرِّجْزَ اِلٰٓى اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿١٣٥﴾ فَانْتَقَمْنَا
عذاب | ترخه موده پورې | چه دوی رسیدونکی وو هغې ته | نو هم هغه وخت به دوی | وعده ماتوله | بیا موږ انتقام واخستو
وخت پورې چه دوی ورته رسیدونکی وو لرې کړو نو هغه ساعت به د خپلو لوظونو نه ورستو شول ، نو موږ ترې
مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ فِى الْيَمِّ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا
له دوی نه | پس موږ غرق کړل دوی | په دریاب کښې | د دې چه دوی | دروغ وګڼل | زموږ آیتونه | او دوی وو
نه بدله واخستله او په سمندر کښې موډوب کړل ، ځکه چه دوی زموږ آیتونه دروغ ګڼل او د هغې نه
عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿١٣٦﴾ وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ
له هغې نه | غفلت کونکي | او موږ وارثان کړل | هغه خلق کوم چه | کمزوری ګڼلے شول
بالکل بے پروا وو ، او کوم قوم چه کمزورے ګڼلے شوے وو موږ هغوی د هغې ملک
مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِىْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَتَمَّتْ
په مشرقونو د زمکه کښې | او په مغربونو د زمکې کښې | هغه زمکه | چه برکت اېښے وو موږ | په هغې کښې | او پوره شوه
د مشرق او د مغرب وارثان کړل چه موږ پکښې برکتونه اېښي وو اؤ د بنی اسرائیلو
كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ بِمَا صَبَرُوْا ؕ وَدَمَّرْنَا
وعده | ستا د رب | نیکه | په بنی اسرائیلو | د دوی د صبر په وجه | او برباد کړل موږ
په حقله ستا د رب ښائسته وعده پوره شوه ، ځکه چه هغوی صبر کړے وو او فرعون
مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا يَعْرِشُوْنَ ﴿١٣٧﴾ وَجٰوَزْنَا
هغه څه چه جوړول به | فرعون | او د هغه قوم | او هغه چه دوی به ئے چتونه جوړول | او موږ تیر کړل
او د هغه قوم چه څه جوړول او (اوچت اوچت عمارتونه ئے) خیژول هغه ټول موږ تباه کړل ۔ او موږ
بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ
بنی اسرائیل | د سمندر نه | نو دوی راغلل | په یو داسے قوم | چه په عبادت کښې لګیا وو
بنی اسرائیل د سمندر نه تیر کړل نو په لاره کښې په یو داسے قوم ورغلل چه خپلو بتانو ته
عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا
د خپلو بتانو | دوی ووئیل | اے موسیٰ! | جوړ کړه | موږ د پاره (هم) | یو معبود
(مجبوران) ناست وو ، نو دوی ووئیل چه اے موسیٰؑ! چه موږ له د دوی د معبودانو
كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿١٣٨﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ
لکه څنګه چه | د دوی دی | معبودان | هغه ووئیل | بیشکه تاسو خو | خلق یئ | ډیر جاهلان | بیشکه | دا خلق
په شان معبود جوړ کړه موسیٰؑ ورته ووئیل چه تاسو خو ډیر ناپوهه خلق یئ۔ دا خلق چه په کوم

مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٩﴾

تباه کیدونکی دی | چه په کومه (بت پرستی) کښې لګیا دي | او باطل دي | هغه (کار) | چه دوی | کولو .

لاړه روان دی هغه خو دتباهئ لاره ده ، او د دوی تول عبادت سراسر بې بنیاده دے .

قَالَ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿١٤٠﴾

ووئیل ده | آیا د الله نه سوا | نه ولټوم تاسو له | معبود؟ | او هغه فضیلت درکړے دے تاسو | په جهان والو باندې

موسیٰ وو ئیل آیا د الله تعالیٰ نه سوا تاسو د پاره بل معبود ولټوم حال دا دے چه هغه تاسو د نورو مخلوق نه غوره کړی

وَإِذْ أَنجَيْنَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ

او (یاد کړئ) کله چه | مونږه نجات درکړو تاسو ته | د فرعون د قوم نه | چه درکول به یې تاسو ته | سخت | عذاب

یې . او هغه وخت یاد کړئ کله چه مونږ تاسو د فرعون د قوم نه خلاص کړئ چه تاسو له یې سخت عذاب درکولو

يُقَتِّلُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُم

چه دوی به وژل | ستاسو ځامن | او ژوندئ به یې پریښودے | ستاسو ښځې | او په دے کښې

او ستاسو ځامن به یې وژل ، او ستاسو جینکئ به یې ژوندئ پریښودے او په دے کښې ستاسو د

ع ١٢ بَلَاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾ وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَاثِينَ لَيْلَةً

آزمینت وو | ستاسو د رب د طرف نه | ډیر لوئے | او مونږ وعده کړے وه | موسیٰ سره | د دیرشو | شپو

رب د طرف نه ډیر لوئے آزمینت وو . او مونږ موسیٰ سره د دیرشو شپو (د اعتکاف) وعده وکړه

وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ

او پوره کړه مونږ دا | په لسو (شپو) سره | بیا پوره شوه | موده مقرره کړه | د هغه د رب | څلویښت

او بیا مو پرے لس ورځے سوا کړے ، نو د هغه د خدائے نیته په څلویښتو شپو کښې پوره

لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ

شپے | او ووئیل | موسیٰ | خپل ورور هارون ته | ته خلیفه شه زما | زما په قوم کښې | او اصلاح کوه

شوه . او موسیٰ خپل ورور هارون ته ووئیلی وو چه ته زما نه پس په قوم باندې زما خلیفه شې او اصلاح

وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾ وَلَمَّا جَاءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ

او تابعداري مه کوه | د لارے | د فساد کوونکو | او هر کله چه راغلو | موسیٰ | زمونږ په میعاد | او خبرې وکړے هغه

کوه او د فساد یانو په لارے عمل مه کوه . هر کله چه موسیٰ زمونږ په مقرره نیته راغے او الله ورسره

رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ ۚ قَالَ لَن تَرَانِي

د هغه رب | هغه ووئیل | اے زما ربه | ښکاره یه ما ته | چه یو نظر واچوم په تا | الله وفرمائیل | هیڅ کله ته نه شے کتلے ما

خبرے وکړے نو موسیٰ ووئیل اے ربه ! ته ما ته ښکاره یه چه زه تا یو نظر وګورم ، الله وفرمائیل ته ما هرګز نه شې لیدلے

وَلَٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي

لیکن | وګوره | د غر طرف ته | که چرے | قلار پاتے شو | په خپل ځائے | نو ته به هم ما ووینے

خو دے غر ته ګوره که په خپل ځائے قلار پاتے شو ، نو ته به هم ما ولیدے شې .

فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى

نو هر کله چه | تجلی وکړه | رب ده هغه | په غر باندې | نو کړو ئې هغه | ذره ذره | او پریوتلو | موسیٰ

نو هر کله چه الله په غر باندې تجلی وکړه ، نو هغه ئې ذرے ذرے کړو او موسیٰ علیه السلام بے هوشه

صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ

بے هوشه | بیا هر کله چه | هغه ته هوش راغلو | نو وه ویل دهٔ | پاک ئې ذات ستا | زهٔ توبه اُوباسم | ستا په حضور کښے

پریوتلو ، بیا چه په هوش کښے راغے نو وئے ویل چه ته پاک ذات یئے ، زهٔ ستا په حضور کښے توبه اوباسم

وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٤٣﴾ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّى اصْطَفَيْتُكَ

او زهٔ | د ټولو نه وړومبے | یقین لرونکے یم | ئې فرمائیل | اے موسیٰ ! | بیشکه ما | غوره کړے ستا

او د هر چانه وړومبے ایمان راوړم ۔ الله تعالیٰ وفرمائیل اے موسیٰ ! ما ته د نورو خلقو نه غوره

عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِىْ وَبِكَلَامِىْ ۖ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ

په خلقو باندې | په پیغامونو خپلو | او په اورولو د خبرو خپلو | پس واخله | هغه چه درکړل ما تا ته | او اُوسه ته

کړے یئے چه رسالت مے درکړے دے او خبرے مے درسره کړی دی ، نو هغه چه مے درکړی دی هغه واخله او

مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبْنَا لَهٗ فِى الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَىْءٍ مَّوْعِظَةً

له شکر گزارو نه | او ولیکل مونږ | هغهٔ د پاره | په تختو کښے | د هر رنګ | نصیحت

شکر گزار اُوسه ۔ او مونږ ورته په بوخو تختو باندې هر قسم نصیحتونه او د

وَّتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ قَوْمَكَ يَاْخُذُوْا

او تفصیل | د هر | څیز | پس ونیسه دا | په قوت سره | او حکم وکړه | خپل قوم ته | چه اختیار کړی

هر مسئلے تفصیل ولیکلو (او ورته مو وویل) چه دا هدایتونه کلک ونیسه او خپل قوم ته حکم وکړه چه هغوی

بِاَحْسَنِهَا ۗ سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿١٤٥﴾ سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِىَ

د دے ډیرے ښے خبرے | ډیر زر به زهٔ درښایم تاسو ته | کور | د ګناهګارو | بیرته به او ساتم زهٔ | د خپلو آیتونو نه

د دے په ډیرو ښو خبرو عمل وکړی ، زهٔ به درته ډیر زر د بد عملو خلقو کورونه وښایم ۔ زهٔ به د هغو کسانو مخونه د خپلو

الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ

هغه خلق چه | تکبر کوی | په زمکه کښے | په ناحقه | او که چرے دوی وګوری | ټول معجزے

آیتونو نه بیرته لرم چه د زمکے په مخ هیڅ بے هیڅه ځان غټ ګڼړی ۔ او که دوی هر قسم نخښے هم ووینی

لَا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ

نو ایمان نهٔ راوړی | په هغے | او که چرے | دوی وګوری | لاره | د هدایت | نو نهٔ نیسی هغه | لاره

خو ایمان پرے نهٔ راوړی او که نیغه لاره ورته ښکاره شی خو په هغے باندې نهٔ ځی

وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الْغَىِّ يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا

او که چرے | دوی وګوری | لاره | د ګمراهئ | نو نیسی هغه | (خپله) لاره | دا ځکه چه دوی | دروغ ګڼړی

او که چرے د ګمراهئ لاره وګوری نو په هغے باندې روان شی ۔ دا په دے وجه چه دوی زمونږ

بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿١٤٦﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

زمونږ آيتونه | او وو دوی | له هغې نه | غافله | او هغه خلق چه | دروغ ئې وګڼل | زمونږ آيتونه

آيتونه دروغ وګڼل او د هغې نه بې پرواه دي ۔ او چا چه زمونږ آيتونه او د آخرت ملاقات

وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۭ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا

او ملاقات | د آخرت | ضائع شول | د دوی عملونه | او دوی به بدله مومي | صرف (د هغه کار)

دروغ وګڼل ، د هغوی عملونه ضائع لاړل هغوی ته به نور څه نه بلکه فقط د

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٧﴾ وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِيِّهِمْ

کوم چه به دوی کول | او جوړ کړو | د موسیٰ قوم | پس له دے نه | د خپلو کالو نه

خپلو عملونو بدله ورکولے شي ۔ او د موسیٰ قوم د هغهٔ (طور ته د تلو) نه پس د خپلو کالو نه یو څخے جوړ

عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ۭ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ

څخے | چه یو بدن وو | چه ئې غږ آواز وو | آیا دوی ونه لیدل | چه هغه | خبرے نه کوی د دوی سره

کړو ، یو تش جوثه وه چه آواز به ئې کولو آیا دوی (دومره قدر) نهٔ کتل چه نهٔ ئې ورسره خبرے

وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿١٤٨﴾

او نه ښائي دوی ته | (څهٔ) لاره | دوی هغه (معبود) جوړ کړو | او دوی وو | ظالمان

کولے او نه ئې ورته (څه) لاره ښودله هغوی دا معبود ونیولو او هغوی ډیر ظالمان وو ۔

وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوْا ۙ

او هر کله چه | شرمنده شول | او دوی ولیدل | چه دوی | بے لارے شول

او کله چه هغوی (د دے عمل نه) شرمنده شول او هغوی وکتل چه دوی واقعي ګمراه شوي دي

قَالُوْا لَىِٕنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُوْنَنَّ

نو دوی ووئیل | که چرے | رحم ونه کړو په مونږ | زمونږ رب | او | دے (نه) بخښلو مونږ | نو خامخا به مونږ شو

نو دوی ووئیل چه که خپل خدائے زمونږ رحم ونهٔ کړي او زمونږ ګناه ونهٔ بخښي نو مونږ به خامخا

مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿١٤٩﴾ وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۙ

له نقصان موندونکو نه | او هر کله چه | واپس راغے | موسیٰ | د خپل قوم طرف ته | په غصه کښے | او غم کښے

برباد شو ۔ او هر کله چه موسیٰ علیه السلام د غصے او د غم نه ډک خپل قوم ته واپس راغے

قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْۢ بَعْدِيْ ۚ اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ

نو ئې ووئیل | ډیره خرابه | قائم مقامي وکړه تاسو زما | له ما نه پس | آیا تلوار مو وکړه تاسو | د خپل رب د حکم نه؟

نو وئې ووئیل چه زما نه پس تاسو ډیر خراب کار وکړو آیا د خدائے د حکم د راتلو نه وړاندې مو تلوار وکړو ؟

وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ

او وئې غورځولے | تختیاتے (د تورات) | او وئې نیولو | سر | د خپل ورور | چه را ښکوئے

او موسیٰ علیه السلام تختۍ وغورځولے او د خپل ورور (هارون) د سر ویښته ئې ونیول او خان ته ئې

ربع ۱۷

وقف لازم

إِلَيْهِ ۚ قَالَ ابْنَ أُمَّ إِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُونِي وَكَادُوا

او نژدې وو چې | زه کمزورې وګڼلم | بیشکه دې خلقو | اې زما د مور خویه | ووئیل (هارون) | خان ته

راښکل . هارون ورته ووئیل اې زما د مور خویه ! دې خلقو زه کمزورې وګڼلم او نژدې وو چه

يَقْتُلُونَنِي فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْأَعْدَاءَ وَلَا تَجْعَلْنِي

او مه شامله وه ما | دښمنان | په ما باندې | پس مه خوشحالوه | چه ووژنی

زه به ئې قتل کړې وې ، نو دښمنان زما باندې مه خوشحالوه ، او د ظالمانو په ډله

مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَ

او | او زما د ورور | معاف کړه ما | اې زما ربه ! | ده ووئیل | چه ظالمان دی | هغه خلقو سره

کښې ئې مه شمیره . موسیٰ علیه السلام ووئیل اې زما خدایه ! ما او زما ورور ته بخښنه او

أَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ ۖ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٥١﴾ إِنَّ الَّذِينَ ع ١٨ ٢ ٨

بیشکه کوم چه | د ټولو نه زیات رحم کوونکې ئې | او ته | په خپل رحمت کښې | داخل کړه موږ

موږ په خپل رحمت کښې داخل کړه او ته د ټولو نه زیات رحم کوونکې یې . بیشکه کوم خلقو

اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَذِلَّةٌ

او ذلت | د دوی د رب | غضب | ژر به رسیږي دوی ته | سخی | ونیولو (معبود)

چه سخی معبود جوړ کړے وو په هغوی به ډیر ژر د هغوی د رب د طرف نه عذاب نازل شي او د

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَالَّذِينَ

او هغه خلق کوم چه | دروغ تړونکو ته | موږ سزا ورکوو | او دغه شان | په ژوند د دنیا کښې

دنیا په ژوند کښې رسوائي (هم)، او دغه شان موږ دروغ جوړوونکو ته سزا ورکوو ، او هغه خلق کوم

عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِنْ بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ

بیشکه ستا رب | او ایمان ئې راوړو | پس له دے نه | بیا ئې توبه وکړه | بد عملونه ئې وکړل

چه خراب کارونه ئې کړي دي ، بیا ئې د هغې نه پس توبه وکړه او ایمان ئې راوړو نو بیشکه ستا رب

مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٥٣﴾ وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُوسَى

د موسیٰ | او کله چه خاموشه شوه (کمه شوه) | مهربان دے | بخښونکے | د دے نه پس

د توبې ایستلو نه پس بخښونکے (او) مهربان دے او هر کله چه د موسیٰ علیه السلام غصه

الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ ۖ وَفِي نُسْخَتِهَا هُدًى وَرَحْمَةٌ

او رحمت (وو) | هدایت | او د هغې په لیکلې شوي کښې | نو را اوچتې ئې کړې هغه تختۍ | غصه

سړه شوه نو تختۍ ئې را اوچتې کړې د دې په مضامینو کښې هدایت او رحمت وو

لِلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾ وَاخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُ

د خپل قوم نه | موسیٰ | او خوښ کړل | ویریږي | چه د خپل رب نه | د هغو خلقو د پاره

د هغه چا د پاره چه د خپل رب نه ویریږي . او موسیٰ علیه السلام د خپل قوم نه اویا تنه سړي

سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّمِيْقَاتِنَا ۚ فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ

اویا (۷۰) | سړی | زمونږ د وعدې د پاره | پس هر کله چه | ونیول دوی لره | زلزلې | نو ووئیل

خوبش کړل چه زمونږ مقرر ځائ ته (راشي) بیا چه هغوی زلزلې راونیول، نو موسیٰ ووئیل

رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ۭ اَتُهْلِكُنَا

اے ربه! | که چیرې تا غوښتلے | نو هلاک کړی به وو تا دوی | له دے نه وړاندې | او زه (هم) | آیا ته مونږ هلاکوې

اے زما خدایه! که تا غوښتلے نو دوی او زه به دې له پخوا هلاک کړی وو. آیا ته مونږ تول

بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاۗءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ اِلَّا فِتْنَتُكَ ۭ

په بدله د هغه څه چه وکړل | کم عقلو | له مونږ نه | نه دی | دا (څه نور) | مګر صرف | ستا ازمیښت دے

په هغه (جرم) هلاکوې چه په مونږ کښې د یو څو کم عقلو د لاسه شوے دے. دا خو فقط ستا یو ازمیښت دے

تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَاۗءُ وَتَهْدِيْ مَنْ تَشَاۗءُ ۭ اَنْتَ

ته ګمراه کوې | په دې سره | څوک | چه ته غواړې | او ته هدایت ورکوې | چا ته چه | ته غواړې | ته یې

چه چا ته دې خوښه وی هغه پرے ګمراه کوې او چا ته چه دې خوښه شی هغه ته پرے هدایت کوې. زمونږ

وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ۝١٥٥

زمونږ کارساز | پس وبخښه مونږ | او رحم وکړه په مونږ | او ته | د ټولو نه بهتر | بخښونکے یې.

کارساز خو ته یې نو مونږ معاف کړه او په مونږ باندې رحم وکړه او ته د ټولو نه زیات معاف کوونکے یې.

وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا

او ولیکه | مونږ د پاره | په دې دنیا کښې | نیکی | او په آخرت کښې (هم) | بیشکه مونږ

او مونږ د پاره په دې دنیا کښې هم نیکی ولیکه او په آخرت کښې هم، بیشکه مونږ

هُدْنَآ اِلَيْكَ ۭ قَالَ عَذَابِيْٓ اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَاۗءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ

رجوع وکړه | تا ته | وے فرمایل | خپل عذاب | زه رسوم | هغه چا ته چه زه غواړم | او زما رحمت

تا ته رجوع کړې ده. ارشاد وشو چه زه خپل عذاب چاله غواړم هغه ته رسوم او زما رحمت

وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ۭ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ

خور دے | په هر څیز | پس ضرور به زه دا ولیکم | هغو خلقو د پاره چه | پرهیزګاری کوی

په هر څیز باندې خور دے، پس زه به دا نیکی هغه خلقو د پاره ضرور لیکم چه پرهیزګاری کوی

وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٥٦ اَلَّذِيْنَ

او ورکوی | زکوٰة | او هغه خلق کوم چه | زمونږ په آیتونو | یقین کوی. | کوم خلق چه

او زکوٰة ورکوی. او هغه خلقو د پاره چه زمونږ په آیتونو باندې ایمان راوړی، هغه خلق چه د

يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا

تابعداری کوی | د رسول | چه نبی | اُمی دے | هغه پیغمبر | چه دوی مومی هغه | لیکلے شوے

داسے رسول نبی اُمی پیروی کوی، چه د هغه ذکر دوی خپل ځان سره په تورات او په

عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ

دَ خپلو ځانو سره | په تورات کښې | او انجيل (کښې) | هغه حکم کوي دوي ته | دَ نيک کار

انجيل دواړو کښې ليکلى بيا موقى ، او هغه دوئ ته دَ نيکئ حکم کوي

وَيَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ

او منع کوي دوي | له بد کار نه | او حلالوي | دوي د پاره | پاکيزه څيزونه | او حراموي

او له بدو کارونو نه ئې منع کوي او پاکيزه څيزونه دَ دوي دَ پاره حلالوي ، او ناپاک څيزونه

عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ

په دوي باندې | ناپاک څيزونه | او کوزوي | له دوي نه | دَ دوي پيټي | او قيدونه

هغوي دَ پاره حراموي ، او له دوي نه پيټي کوزوي ، او طوقونه

الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۭ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ

کوم چه | ؤو | په دوي باندې | پس کوم خلق | چه ايمان ئے راوړو | په هغه | او دَ هغه ملاتړ ئے وکړو | او دَ هغه مدد ئے وکړو

ترے نه پرانيزي ، نو څوک چه په هغه ايمان راوړي او دَ هغه ملاتړ وکړي او مدد ئے وکړي

وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٥٧﴾ ع ١٩ ٩

او تابعداري وکړه دوي | دَ هغه نور کوم چه | نازل کړے شو | دَ ده سره | هم دغه خلق دي | کامياب موندونکي

او په هغه رڼا پسے روان شي چه هغه سره نازله شوے ده ، نو هم دغه کسان کامياب دي ۔

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعَا الَّذِيْ لَهٗ

ووايه | اے خلقو! | بيشکه زه | دَ الله پيغمبر يم | تاسو ټولو طرف ته | دَ چا دَ پاره چه ده

(اے پيغمبره!) ووايه چه اے خلقو! زهٔ دَ خدائے رسول يم چه تاسو ټولو ته رالېږلے شوے يم ، هغه خدائے

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ

بادشاهي | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | نشته دے څوک معبود | سوا دَ هغه نه | هغه ژوندي کوي | او هغه مړه کوي

چه دَ آسمانونو او زمکے مالک دے ، په دَ هغه نه بل معبود نشته هم هغه ژوند بخښي او هم هغه مرګ

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ

پس تاسو ايمان راوړئ | په الله | او دَ هغه په رسول | چه نبي | اُمّي دے | کوم چه | ايمان راوړي

راولي نو تاسو ټول په الله ايمان راوړئ او دَ هغه په رسول چه امي نبي دے چه په الله او دَ هغه

بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥٨﴾

په الله | او دَ هغه په کلام | او تابعداري وکړئ دَ هغه | دَ پاره دَ دے چه تاسو | سمه لار بيا مومئ .

په کلام باندې (بخپله هم) ايمان لري او دَ هغه تابعداري وکړئ چه تاسو سمه لار بيا مومئ

وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ

او دَ موسیٰؑ دَ قوم نه | يوه ډله ده | چه لاره ښائي | دَ حق طرف ته | او هم دَ هغه مطابق

او دَ موسیٰ عليه السلام په قوم کښې داسے يو ټولے هم شته چه دَ حق لار ښئي هدايت کوي او دَ حق مطابق

يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَیْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا ؕ

دوی انصاف کوی | او موږ جدا جدا کړل دوی | دولس تسمه | قبیلې قبیلې | ډلے ډلے

انصاف کوی او موږ دوی په دولسو قبیلو کښې په جُدا جُدا ټولو کښې تقسیم کړل

وَاَوْحَیْنَاۤ اِلٰی مُوْسٰۤی اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗۤ اَنِ اضْرِبْ

او موږ وحی وکړه | موسیٰ طرف ته | کله چه اوبه وغوښتلے دده نه | دده قوم | چه ووهه

او کوم وخت چه قوم د موسیٰ علیه السلام نه اوبه وغوښتلے نو موږ ورته وحی وکړه چه فلانے کټ

بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ۚ فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَیْنًا ؕ

په خپله همسا | کاڼے | پس روانے شوے | د هغے نه | دولس (۱۲) | چینے

په همسا ووهه نو د هغے نه دولس چینے راوُختکیدے ، هر یو

قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ وَظَلَّلْنَا عَلَیْهِمُ

وپیژندلو | هر یو | قبیلے | خپل خپل گودر | او موږ سیورے کړو | په دوی باندې

قبیلے خپل خپل گودر معلوم کړو . او موږ په دوی د وریځے

الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَیْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰی ؕ كُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ

د وریځے | او نازل کړل موږ | په دوی باندې | ترنجبین | او مرزان | چه خوری | له پاکیزه څیزونو نه

سیورے وکړو ، او من او سلوی مو پرے نازل کړو چه هغه پاک څیزونه خوری

مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٠﴾

کوم چه موږ درکړل تاسو ته | او نه ئې کړے ظلم دوئ په موږ | لیکن دوی به په خپلو ځانونو | ظلم کولو

چه موږ درله روزی کړی دی او موږ په دوی ظلم نه دے کړے بلکه دوی پخپله په خپلو ځانونو ظلم کړے

وَاِذْ قِیْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ الْقَرْیَةَ وَكُلُوْا مِنْهَا حَیْثُ

او هر کله چه | او وئیلے شول | دوی ته | چه اوُسیږئ تاسو | په دے | کلی کښے | او خورئ | له دغه کلی نه | کوم ځائے نه چه

او کوم وخت چه ورته وئیلے شو چه په دے کلی کښے اوسیږئ او د هغے د نصلونو نه په مرضئ

شِئْتُمْ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ

تاسو غواړئ | او وایئ | "معاف کړه" (موږ) | او داخل شئ | دروازے ته | سجده کوونکی | چه وبخښو موږ

خورئ او حِطَّةٌ حِطَّةٌ وایئ ، او د ښار دروازے ته د سجدے په حالت کښے ورننوځئ ، موږ به ستا

لَكُمْ خَطِیْٓـٰٔتِكُمْ ؕ سَنَزِیْدُ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا

تاسو له | گناهونه ستاسو | زیات به ورکړو موږ | نیکانو ته | پس بدل کړه | هغوی چه ظالمان وو

خطا گانے معاف کړو او نیکانو خلقو سره به د ثواب نه زیاته مهربانی وکړو. نو په دوی کښے چه څوک ظالمان وو ،

مِنْهُمْ قَوْلًا غَیْرَ الَّذِیْ قِیْلَ لَهُمْ فَاَرْسَلْنَا عَلَیْهِمْ

له دوی نه | خبره | سوا د هغے نه | چه وئیلے شوی وه | دوی ته | پس راولیږلو موږ | په دوی باندې

هغوئ شود لے تکے په بل تکی بدل کړو . نو موږ په دوی باندې د رے ظلم

رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٢﴾ وَسْـَٔلْهُمْ

عذاب | له اسمان نه | په دې وجه چه | دوی ظلم کولو | او پوښتنه وکړه له دوی نه

په وجه د اسمان نه عذاب را نازل کړو. او د دوی نه د هغې کلی (د خلقو)

عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ ۘ اِذْ يَعْدُوْنَ

د دې کلي په حقله | کوم چه | آباد وو | په غاړه | د سمندر | کله چه | دوی د حد نه تیریدل

په حقله پوښتنه وکړه چه د سمندر په غاړه آباد وو، چه هغوی به د سبت په ورځ د حد نه

فِي السَّبْتِ اِذْ تَاْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا

په ورځ د خالی | کله چه راتلل به دوی ته | د دوی کبان | په ورځ د خالی د دوی | ښکاره

تجاوز کولو چه کبان به ورته د سبت په ورځ ښکاره راتلل

وَّيَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ لَا تَاْتِيْهِمْ ۛ كَذٰلِكَ ۛ نَبْلُوْهُمْ

او کومه ورځ چه به د هغې نه وه | نو نه به راتلل دوی ته | دغه شان | مونږ به ازمایل دوی

او چه د سبت ورځ به نه وه نو نه به راتلل، په دې چل مونږ د هغوی ازمیښت کولو

بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٣﴾ وَاِذْ قَالَتْ اُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُوْنَ

په وجه د دوی د نافرمانۍ | او هر کله چه ووئیل | یوې ډلې | له دوی نه | تاسو ولې نصیحت کوئ

ځکه چه هغوی نافرمانه خلق وو. او کوم وخت چه په هغوی کښې یوې ډلې ووئیل چه تاسو داسې خلقو ته

قَوْمَا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ

داسې قوم ته | چه الله | هلاکوونکے دے د دوی | یا | دوی ته عذاب ورکوونکے دے | عذاب | سخت

څه له نصیحت کوئ چه الله تعالیٰ ئې هلاکوی یا ئې په سخته سزا اخته کوی

قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٦٤﴾

دوی ووئیل (چه) | عذر پېش کولو د پاره | په نزد د رب ستاسو | او د پاره د دې چه دوی | پرهیزګاری وکړی

هغوی ورته ووئیل چه (مونږ دا کار) ځکه کوو چه الله ته خپل عذر پېش کړو او شاید چه دوی منع شی.

فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖۤ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ

پس هر کله چه | دوی هیر کړل | هغه څه | چه نصیحت شوی وو دوی ته د هغې | نو نجات ورکړو مونږ | هغو خلقو ته

نو هر کله چه هغوی هغه نصیحتونه هیر کړل، نو مونږ هغه کسان خلاص کړل چه د بدۍ نه

يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا بِعَذَابٍۭ بَـِٔيْسٍۭ

چه منع به ئې کوله | له بد کار نه | او ونیول مونږ | هغه خلق چه | ظالمان وو | په عذاب | سخت سره

ئې خلق منع کول، او نور ټول ظالمان مو په ناترسه عذاب کښې راونیول

بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ

په وجه د دې | چه دوی به نافرمانی کوله | پس هر کله چه | دوی سرکشي وکړه | د هغه څیز نه | د کوم نه چه منع کړې شوی وو

ځکه چه هغوی بدعمله وو. بیا د کوم کار نه چه دوی منع کړې شوی وو کله چه په دې کښې دوی

قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿١٦٦﴾ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ

ستا رب | حکم وركړو | او هركله چه | ذليله | بيزوګان | چه شئ | دوى ته | نو وويل مونږ

نو وويل مونږ ورته وويل چه ذليله بيزوګان شئ ۔ او هغه وخت ياد كړه چه ستا رب دا اعلان

لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ

سخت عذاب | چه رسوى به دوئ | هغه څوک | د قيامت پورې | تر ورځې | په دوى باندې | چه خامخا به راليږى

وكړو چه تر قيامته به په بنى اسرائيلو باندې داسې خلق مسلط كړم چه د ذلت عذاب به ور كوى

اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ ۚۖ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٦٧﴾

بيشكه | ستا رب | زر عذاب وركوونكے دے | او بيشكه دے | بخښونكے | مهربان دے ۔

بيشكه ستا رب په سزا وركولو كښې ډير تيز دے او بخښونكے مهربان دے

وَقَطَّعْنٰهُمْ فِى الْاَرْضِ اُمَمًا ۚ مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ وَمِنْهُمْ

او ځينې له دوئ | نيكان دى | ځينې له دوى نه | ډلې ډلې | په زمكه كښې | او مونږ جدا جدا كړل دوى

او مونږ دوئ په دنيا كښې جدا جدا كړل او په قامونو كښې مو تقسيم كړل ، څوک پكښې نيكان وو او څوک پكښې

دُوْنَ ذٰلِكَ ۫ وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿١٦٨﴾

بيرته راوګرځى ۔ | چه دوى | او تكليفونو | په نعمتونو | او مونږ آزمائيل دوى | د دې نه علاوه (دى)

بل شان وو او مونږ دوى په ښو او بدو (دواړه قسم) حالتونو و آزمائيل شايد چه دوئ (د نافرمانئ نه

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَاْخُذُوْنَ عَرَضَ

مال | چه دوئ اخلى | د كتاب | چه وارثان شول | بد جانشين | پس له دوى نه | بيا جانشين شول

بيرته شي ۔ بيا د دغه نسلونو نه پس داسې ناخلفه ترې نه پيدا شول او د الله د كتاب وارثان شول چه د دنيا

هٰذَا الْاَدْنٰى وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ

مال | او كه چرې راشى دوى ته | چه بخښنه به وكړے شى مونږ ته | او وائى | د دې ادنى دنيا

مال متاع پسې راغونډوى او دا وائى چه مونږ ته به ډير زر معافى وشى ، او كه هغسې مال ورله بيا په لاس

مِّثْلُهٗ يَاْخُذُوْهُ ؕ اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ

د كتاب | كلكه وعده | له دوى نه | آيا نه وه اخستے شوې | نو اخلى هغه | په شان د هغې

ورشى نو (بے پښتو سے) اخلى ، آيا دوى نه په كتاب (تورات) كښې دا وعده نه وه اخستے شوې چه د

اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ ؕ

په دې كښې (دى) | څه چه | لوستلى دى دوى | او | سوا د حقه خبرې نه | په الله باندې | چه نه به وائى دوى

الله په نوم به بغير د حق نه نور څه نه وائى ؟ او دوى څه چه په دے كښې وو لوستلى هم دى

وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٦٩﴾

پس آيا تاسو عقل نه لرئ | چه ويريږى (د الله نه) | هغه كسانو له | ډير ښه دے | د اخرت | او كور

او د اخرت كور د هغو خلقو د پاره ډير ښه دے كوم چه پرهيزګاره دى آيا تاسو په دې هم نه پوهيږئ

وَالَّذِيْنَ يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا

او هغه خلق | چه کلک نیسي | کتاب | او قائموي | مونځ | بیشکه مونږ

او هغه خلق چه کتاب ئې په مضبوطئ سره نیولے دے ، او مونځونه باقاعده کوي ، یقیناً مونږ

لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ

نه ضائع کوو | اجر | د اصلاح کوونکو | او هرکله چه مونږ اوچت کړو | غر | د دوي د پاسه

د داسے نیکانو خلقو اجر نه ضائع کوو . او یاد کړه هغه وخت چه مونږ غر د دوي د سرونو د

كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوْٓا اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا

داسے لکه چه دا | تنبو دے | او دوي خیال کړو | چه دا | راپریوتونکے دے | په دوي باندې | ونیسئ تاسو

پاسه داسے اوچت کړو لکه چه چترئ او هغوي ته یقین وشو چه اوس دا په هغوي باندې پریوتونکے دے (ورته مووئیل)

مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ ع ۲۱ / ۱۱

څه چه مونږ درکړي دي تاسو ته | په مضبوطئ سره | او یاد کړئ | څه چه په دې کښے دي | چه تاسو | بچ پاتے شئ

چه) مونږ کوم کتاب درکړے دے هغه ټینګ ونیسئ او چه څه په کښے لیکلي دي هغه یاد ساتئ چه د ګناهونو نه بچ شئ

وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ

او هرکله چه | واخستلو | ستا رب | له بنیادمونه | د دوي له شاګانو نه | اولاد د دوي

او هغه وخت ورته یاد کړه چه ستا رب د بنیادمو د ملاګانو نه د هغوي اولاد راوویستلو

وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ ۚ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى ۛۚ شَهِدْنَا ۛۚ معانقة ۷

او ګواهي ئې واخستله له دوي نه | د دوي په نفسونو باندې | آیا نه یم زه | ستاسو رب | دوي ووئیل | هو! یقیناً | مونږ ګواهي درکوو

او هغوي ئې په خپلو ځانونو ګواهان کړل (او تپوس ئې ترې وکړ چه) آیا زه ستاسو رب نه یم؟ هغوي ووئیل ولے نه! مونږ په دې

اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ اَوْ تَقُوْلُوْٓا

چه و به وایئ تاسو | په ورځ د قیامت | چه بیشکه مونږ وو | د دے نه | بے خبره | یا دا به وایئ دا چه

ګواه یو، داځکه چه تاسو د قیامت په ورځ دا ونه وایئ چه مونږ د دے نه خبر نه وو. یا دا ونه وایئ

اِنَّمَآ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ

بیشکه | شرک کړے وو | پلارانو زمونږ | له دے نه وړاندې | او مونږ دو | (د دوي) اولاد | د روستو له دوي نه

چه شرک خو وړاندې زمونږ پلار نیکه شروع کړے وو او مونږ د هغوي په نسل کښے د دوي نه روستو پیدا شوي وو

اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

نو آیا ته هلاکوے مونږ؟ | په وجه | چه کړے دے | ګمراهانو | او دغه شان | مونږ بیانوو

نو آیا ته مونږ د هغې کارونو په وجه هلاکوے چه (بیځایه) غلط کار خلقو کړي وو او دغه شان مونږ خپل آیتونه

الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِيْٓ

آیتونه | او د پاره د دې چه دوي | بیرته راوګرځي | او واوروه | دوي ته | حال | د هغه چا

په تفصیل سره بیانوو شاید چه دوي (حق لاره ته) راوګرځي . او اے پیغمبره! دې خلقو ته د هغه چا قصه ولوله

اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ

کوم ته چه مونږ ورکړي وُو | خپل ایتونه | بیا دے وُوتلو | د دے نه | پس ورپسې شو | شیطان | او شو دَے

چه مونږ ورته خپل ایتونه ورکړل نو هغه ترے ته ځان راښکلو نو شیطان ورپسے ولګیدو ، نو په ګمراهانو

مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗۤ اَخْلَدَ

له ګمراهانو نه | او که چرے | مونږ غوښتلے | نو اُوچت کړے به وو مونږ دے | په دے ایتونو | او لیکن دے | مائل شو

کښے شامل شو ۔ او که مونږ غوښتلے نو هغه مرتبه به مو په دے ایتونو اُوچته کړے وه ، لیکن هغه خو دنیا

اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ اِنْ

زمکے طرف ته | او پیروی ئے وکړه | دَ خپل خواهش | نو د ده مثال | په شان دَ مثال دَ سپی دے | که چرے

طرف ته مائل شو او دَ خپل نفسانی خواهشاتو تابعداری ئے وکړه ، نو د ده مثال دَ سپی په شان دے که ته

تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ

ته حمله وکړے په ده | نو هم ژبه راوباسی | یا دے پریږدے | نو هم ژبه راوباسی | هم دا | مثال دے دَ هغو خلقو

هغه وزغلوے نو هم ژبه راوباسی او که هغه پریږدے نو هم ژبه راوباسی ، هم دا مثال دَ هغو خلقو دے

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٧٦﴾

کوم چه | دروغ وګڼړل | زمونږ آیتونه | پس بیان کړه ته | هم دا حالات | چه دوی | غور وکړی

چه زمونږ آیتونه دروغ ګڼړی ، ته دوی ته دا قصه اُووه شاید چه دوی غور او فکر وکړی

سَآءَ مَثَلَا ِۨالْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ

ډیر بد دے | مثال | دَ هغه قوم | کوم چه | دروغ وګڼړل | زمونږ آیتونه | او په خپلو ځانونو

دَ دے خلقو دا مثال ډیر خراب دے کوم چه زمونږ حکمونه دروغ وګڼړل او په خپلو ځانونو

كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿١٧٧﴾ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ

دوی ظلم کولو | چا ته چه هدایت وکړی الله | نو هم هغه دے | په سمه لار باندې تلونکے | او څوک چه

باندې ئے ظلم کولو ۔ چا ته چه الله هدایت وکړی نو بس هغه سمه لار بیا مومی ، او څوک چه

يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٧٨﴾ وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ

ګمراه کړی | پس هم هغه دی | نقصان مونده ونکی | او بیشکه | مونږ پیدا کړی دی | دَ دوزخ دَ پاره

دَ هدایت نه محروم کړی نو هغوی تاوانیان پاتے شی ۔ او دا حقیقت دے چه مونږ ډیر پیریان

كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ۚ وَلَهُمْ

ډیر | پیریان | او بنیادم | دَ دوی زړونه دی | چه نه پوهیږی په هغے سره | او دَ دوی

او بنیادم دوزخ له پیدا کړی دی ۔ دَ هغوی زړونه شته خو دَ پوهے کوشش نه کوی او دَ هغوی

اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۚ وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ

سترګے دی | چه دوی نه وینی | په هغے | او دَ دوی | غوږونه دی | چه دوی نه اوری په هغے | دا خلق

سترګے شته خو کتل پرے نه کوی او دَ هغوی غوږونه شته خو اوریدل پرے نه کوی ، هغوی

كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ وَلِلّٰهِ

په شان د څارو وو دي | بلکه دوی نه هم زیات ګمراه | هم دا خلق دي | (د دین نه) ناخبره . | او الله د پاره دي

د څارو و په شان دي بلکه د هغوی نه هم زیات ګمراه دي ، او هم دا خلق (د حق نه) بې خبره پاتې دي او د الله

الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۪ وَذَرُوا الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ

نوم ونه | ښه ښه | پس بلئ هغه | په دغه نومونو | او پرېږدئ | هغه خلق | چه غلط لار اختیاروي

ټول نومونه ښه ښه دي ، تو په هغه نومونو ئې یادوئ او هغه خلق پرېږدئ چه د الله په نومونو کښې

فِیْۤ اَسْمَآئِهٖ ؕ سَیُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَمِمَّنْ

د هغه په نامو کښې | ډیر زر به سزا ورکړې شي د دوي | د هغه څه چه دوی به کول | او له هغو خلقو نه

کږ لېچونه لټوي ، دوی ته به د خپلو عملونو بدله ډیر زر ورکولې شي . او د زمونږ په مخلوق کښې

خَلَقْنَاۤ اُمَّةٌ یَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ یَعْدِلُوْنَ ﴿۱۸۱﴾ ع ۲۲ / ۱۲

چه مونږ پیدا کړي دي | یوه ډله ده | چه لار ښائي | د حق طرف ته | او هم د دې مطابق | دوی انصاف کوي .

یوه ډله داسې هم شته چه د حق مطابق (خلقو ته) هدایت کوي او د حق مطابق انصاف کوي .

وَالَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَیْثُ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۲﴾

او هغه خلق چه | دروغ ګڼړي | زمونږ آیتونه | زر دي چه مونږ به درجه په درجه بیو دوي | داسې چه دوی ته به خبر هم نه وي

او چا چه زمونږ حکمونه دروغ ګڼلي دي مونږ به ډیر زر هغوی درجه په درجه داسې په ګرفت کښې راولو چه هغوی ته

وَاُمْلِیْ لَهُمْ ؕ اِنَّ كَیْدِیْ مَتِیْنٌ ﴿۱۸۳﴾ اَوَلَمْ یَتَفَكَّرُوْا

او زه مهلت ورکوم | دوی ته | بېشکه | زما تدبیر | ډیر زبردست دی | آیا دوی غور ونه کړو

به معلوم هم نه شي . او زه هغوی ته مهلت ورکوم ، زما تدبیر ډیر مضبوط دی . دوی چرې دې ته فکر نه دې کړې

مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۱۸۴﴾

چه نشته دې د دوی په ملګري (محمد) | څه لیونتوب | نه دی دی مګر | ویرونکې (دی) | ښکاره .

چه د دوی په دې ملګري (پیغمبر) باندې د پیریانو هیڅ اثر نشته ، هغه خو ښکاره ویرونکې دی .

اَوَلَمْ یَنْظُرُوْا فِیْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ

او آیا دوی غور ونه کړو | په حکومت کښې | د آسمانونو | او د زمکې | او څه چه پیدا کړل | الله

آیا دوی چرې د آسمانونو او زمکې انتظام ته نه دي کتلي آیا دوی بل هیڅ څیز ته چه الله

مِنْ شَیْءٍ ۙ وَّاَنْ عَسٰۤى اَنْ یَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ

له هر څیز نه | او دا چه شاید | نږدې شوې وي | نېټه د دوی

پیدا کړې دي نه دي کتلي او دې ته ئې هم فکر نه دې کړې چه شاید د دوی نېټه رانږدې شوې وي .

فَبِاَیِّ حَدِیْثٍۭ بَعْدَهٗ یُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۵﴾ مَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ ؕ

پس په کومه خبره | پس له دې نه | به دوی ایمان راوړي | هغه څوک چه ګمراه ئې کړي الله | نشته څوک لار ښودونکې هغه ته

او س به د دې (قرآن) نه پس دوی په بله کومه خبره ایمان راوړي ؟ څوک چه الله د هدایت نه محروم کړي هغه ته هیڅوک هدا-

وَيَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٨٦﴾ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ

او هغه پريږدي دوی | د دوی په سرکشئ کښے | سرگردانه | تپوس کوی دوی له تا نه | د قيامت په حقله

نه شي کولے او دغه خلق الله په خپله سرکشئ کښے سرگردانه پريږدی. دوی تا نه د قيامت په حقله تپوس کوی

أَيَّانَ مُرْسٰىهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي ۖ لَا يُجَلِّيهَا

چه کله به وی | د دے قائميدل | ووايه | يقيناً | علم د دے | زما رب سره دے | نه به ښکاره کوی دا

چه کله به راځی؟ ورته ووايه چه د دے علم خو زما رب سره دے، هم هغه به ئے په

لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ ۘ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ

د دے په وخت باندے | مگر هم هغه | ډير درنه حادثه به وی | په آسمانونو کښے | او زمکه (کښے) | نه به راځی تاسو ته

خپل وخت ښکاره کوی، دا به د آسمانونو او د زمکے ډير سخته حادثه وی، په تاسو به بالکل

إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا

مگر ناگهانه | دوی له تا نه تپوس کوی | لکه چه ته | په لټون کښے لګيا يې د هغے | ووايه | بيشکه | علم د دے

ناگهانه راځی. دوی تا نه داسے پوښتنے کوی لکه چه تا د هغے پوره تحقيقات سره رسولی وی، ورته ووايه چه د هغے علم

عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ قُلْ

د الله سره دے | ليکن | اکثر | خلق | نه پوهيږی. | ووايه

صرف الله سره دے، خو اکثر خلق په دے نه پوهيږی. ورته ووايه

لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ ۚ

زه نه يم مالک | د خپل ځان د پاره | د نفع | او نه د نقصان | مگر څه چه | غواړی الله

زما خو د خپل ذات د نفع نقصان هم هيڅ اختيار نشته، مگر څومره چه الله تعالیٰ ته منظور وی

وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۚ

او که چرے | زه پوهيدلے | په علم غيب باندے | نو ما به ډير راټول کړے وو | له خير نه

او که ما ته د غيبو خبرے معلومے وے نو ځان له به مے ډيرے ښيګړے راټولے کړے وے

وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ ۚ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ

او نه به ؤ رسيدلے ما ته | څه تکليف | نه يم زه | مگر | ويروونکے | او زيرے ورکوونکے

او هيڅ نقصان به را ته نه رسيدو. زه خو بس ويروونکے او زيرے ورکوونکے يم هغه

لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ

هغو خلقو ته | چه ايمان لری | هم هغه دے کوم چه | پيدا کړی تاسو | يو نفس (آدم) نه | او پيدا ئے کړه

چا ته چه زما خبره منی. الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئے د يو نفس نه پيدا کړئ او هم د

مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ۖ فَلَمَّا تَغَشّٰهَا

د دہ نه | د دہ ښځه | چه دے آرام بيا موی | د دے سره | پس هر کله چه | جماع وکړه (سړی) د دہ ښځے

هغه نه ئے ورله جوړه پيدا کړه چه سکون ورسره بيا موی نو کوم وخت چه نر د ښځے سره يو ځائے

معانقة ٨

ع ۱۲/۲۷

حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ۚ فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ

(نو) هغه حامله شوه | په حمل سپک | پس تلله راتلله | په هغې سره | بيا هر کله چه | هغه درنه شوه

شي نو دَ هغې معمولي شان حمل شي ، چه هغه ورسره ګرځي راګرځي . بيا چه هر کله حمل درون شي نو

دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ

نو دُعا وکړه دواړو | دَ الله نه | چه دَ دوي رب دے | که چرې تا راکړو مونږ ته | (خوئے) تندرست | نو خامخا به شو مونږ

دواړه په شريکه خپل رب ته دُعا وکړي ، که مونږ له تا نيک اولاد راکړو نو مونږ به ستا

مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۸۹﴾ فَلَمَّآ اٰتٰهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ

له شکرګزارو نه | بيا هر کله چه | هغه ورکړو دوي ته | (خوئے) روغ | نو جوړ کړل دوي | هغه له شريکان

ډير شکرګزار يُو . نو هر کله چه الله ورله روغ رمټ خوئے ورکړو نو دواړو خدائے له شريکان جوړ کړل

فِيْمَآ اٰتٰهُمَا ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾ اَيُشْرِكُوْنَ

په هغه څه کښے | چه ورته کړل دوي ته | پس ډير اوچت دے | الله | له هغه څه نه | چه دوي (دَ هغه) شريک جوړوي | آيا دوي شريک جوړوي

په هغې څيز کښے چه خدائے ورکړے وو ، او الله ډير اوچت دے دَ هغه څيزونو نه چه دوي ورله شريکان جوړوي . آيا دوي ورله

مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۱۹۱﴾ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

هغه څيز | چه نه پيدا کوي | هيڅ څيز | او دوي (پخپله) | پيدا کيدے شي | او نه (خو) دوي طاقت لري

هغه څيزونه شريکان کوي چه هيڅ هم نه شي پيدا کولے بلکه پخپله پيدا کيدے شي او هغوي دَ دوي دَ مدد

لَهُمْ نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۲﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ

دَ هغوي | دَ مدد | او نه | دَ خپل ځان | مدد کولے شي | او که چرې ته را وبلے دوي

طاقت هم نه لري او نه دَ خپل ځان مدد کولے شي . او (اے مشرکانو!) او که چرے تاسو

اِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ۗ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ

سمے لارے طرف ته | نو پيروي نه کوي ستاسو | برابره ده | په تاسو | دا چه تاسو وبلئ دوئ

نے سمے لارے طرف ته راوبلئ نو ستاسو په خبرے پسے به نه ځي . تاسو دَ پاره برابره خبره ده که تاسو دوي وبلئ

اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ﴿۱۹۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

يا | تاسو | چپ پاتے کيږئ | بيشکه | کوم چه | تاسو بلئ | سوا دَ الله نه

يا چپ پاتے شئ (دوئے نه بلئ) . هغه خلق کوم چه تاسو دَ الله تعالیٰ نه سوا بلئ هغه

عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

هغه بندګان دي | ستاسو په شان | پس وبلئ دوي | پس پکار ده چه جواب درکړي دوي تاسو ته | که چرے يئ تاسو

ستاسو په شان بندګان دي ، پس تاسو دوي وبلئ نو پکار دي چه دوي ستاسو خبره قبوله کړي

صٰدِقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ بِهَآ ۫ اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ

رښتوني | آيا دَ دوي | ښپے دي | چه روان دي | په هغے | يا | دَ دوي | لاسونه دي

که چرے تاسو رښتوني يئ . آيا دَ دوي ښپے شته چه تګ پرے وکړي يا دَ دوي لاسونه شته چه

يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ ۡ اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ ۡ

چه نیول کوی | په هغې | یا دَ دوی | سترګې دی | چه وینی | په هغې

نیول پرے وُکړی ، یا دَ هغوی سترګې شته چه کتل پرے وُکړی

اَمْ لَهُمْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ قُلِ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ

یا دَ دوی | غوږونه دی | چه آوری | په هغې | ووایه | راوبلئ تاسو | خپل معبودان

یا دَ هغوی غوږونه شته چه آوریدل پرے وکړی ، (اے پیغمبره!) ووایه چه خپل شریکان راوبلئ

ثُمَّ كِيْدُوْنِ فَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿١٩٥﴾ اِنَّ وَلِیِّ ۦَ اللّٰهُ الَّذِیْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ ۡ

بیا | تدبیر وکړئ زما خلاف | او ما ته مهلت مهٔ راکوئ | بیشکه زما کارساز الله دے | کوم چه | نازل کړو دا کتاب (قرآن)

بیا زما دَ نقصان تدبیر وکړئ او ما ته مهلت هم مهٔ راکوئ . زما مددګار خو هغه الله دے چه دا کتاب یې را نازل کړے دے

وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٩٦﴾ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

او هغه | کارسازی کوی | دَ نیکانو | او کوم چه | تاسو بلئ | دَ هغهٔ نه سوا

او هم هغه دَ ټولو نیکانو خلقو کارسازی کوی . او تاسو چه دَ الله تعالیٰ نه سوا نورو خلق رابلئ

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿١٩٧﴾ وَ

دوی نهٔ شی کولے | مدد ستاسو | او نهٔ دَ خپلو ځانونو | مدد کولے شی | او

دوی نهٔ خو تاسو ته دَ مدد رسولو طاقت لری او نهٔ دَ خپل ځان مدد کولے شی . او

اِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ؕ وَتَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ

که چرے تاسو راوبلئ دوی | سمے لارے طرف ته | نو دوی نهٔ آوری | او ته وینے دوی | چه دوی ګوری

که چرے ته دوی هدایت طرف ته راوبلے نو دوی نهٔ آوری او داسے ښکاری چه تا ته (په غور غور)

اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿١٩٨﴾ خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ

تا ته | او حال دا دے چه دوی | هیڅ نهٔ وینی | معاف وُکړه | او حکم ورکړه | دَ نیک کار

ګوری خو هغوی سره دَ دے نهٔ وینی . (اے پیغمبره!) نرمی اختیار کړه او دَ نیکئ حکم کوه

وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿١٩٩﴾ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ

او | مخ واړوه | دَ جاهلانو نه | او که چرے | را منع کړی تا | له طرفه دَ شیطان نه

او دَ جاهلانو پرواه مهٔ کوه . او که چرے دَ شیطان دَ طرف نه ستا په زړهٔ کښے څهٔ

نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٠٠﴾

وسوسه | نو پناه غواړه | دَ الله | بیشکه هغه | آوریدونکے | پوهه دے

وسوسه پیدا شی نو په الله تعالیٰ سره پناه غواړه یقیناً هغه ښهٔ آوریدونکے او په هر څهٔ پوهه دے

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ

بیشکه | هغه خلق | چه ویریږی (دَ الله نه) | هر کله چه ورسیږی دوی ته | څهٔ وسوسه | له (طرفه دَ) شیطان نه

یقیناً هغه خلق کوم چه پرهیزګار دی کله چه دَ شیطان دَ طرف نه دوی ته څهٔ وسوسه پیدا شی

تَذَكَّرُوْا فَاِذَاهُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿٢٠١﴾ وَاِخْوَانُهُمْ يَمُدُّوْنَهُمْ

نو دوی یادوی | بیا هم هغه وخت دوی | (صحیح) گوری | او د دوی ورونړه (شیطانان) | دوی ـ راکاږی

نو ژر خدائے رایاد کړی او نوراُئے سترگے وغړیږی، او د دے خلقو ورونړه (شیطانان) دوی د گمراهئ

فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُوْنَ ﴿٢٠٢﴾ وَاِذَا لَمْ تَاْتِهِمْ بِاٰيَةٍ

په گمراهئ کښے | بیا | دوی هیڅ کے نه کوی | او کله چه | رانه وړے ته دوی ته | څه معجزه

طرف ته راکاږی او هیڅ کے پکښے نه پریږدی. او کله ته دوی ته معجزه نه پیش کوے نو

قَالُوْا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ مَا يُوْحٰٓى

نو وائی | ولے د د ځانه جوړه نه کړه هغه | ته ووایه | بیشکه چه پیروی کوم زه | د هغه څه چه وحی کولے شی

دوی وائی چه ولے د دغه معجزه د ځان نه پیش نه کړه. ته ورته ووایه چه زه خو په هغے لار روان یم چه

اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ۚ هٰذَا بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى

ما ته | زما د رب له طرف نه | دا دلیلونه دی | ستا د رب له طرف نه | او هدایت

خپل رب راته وحی کړی دی. دا قول ستاسو د رب د غاړے نه دلیلونه دی او هدایت

وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ

او | رحمت | هغو خلقو د پاره | چه ایمان لری | او کله چه | لوستلے شی | قرآن

او رحمت دے هغو خلقو له چه مؤمنان دی. او کوم وخت چه قرآن لوستلے شی

فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٢٠٤﴾ وَاذْكُرْ

نو په توجه سره آورئ | هغه | او چپ وسئ | د پاره د دے چه تاسو باندی | رحم وکړے شی | او یاد دئ

نو په توجه سره ئے آورئ او چپ وسئ چه رحم درباندی وکړے شی. او (اے پیغمبره!)

رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ

خپل رب | په خپل زړه کښے | په عاجزئ | او په ویره | او بغیر

ته په خپل زړه کښے په عاجزئ او په ویرے سره او پټ پټ بغیر د آواز

الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ

د اوچت | آواز نه | سحر | او ماښام | او مه کیږه ته

اوچتولو نه خپل رب سحر او ماښام یادوه، او په غافلانو کښے

مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ

له غافلانو نه | بیشکه | کومے (فرښتے) چه | ستا د رب سره دی | هغوی تکبر نه کوی

ځان مه شاملوه. بیشکه کومے فرښتے چه ستا رب سره (مقربے) دی هغوی د خدائے

عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ السجدة

له عبادت د ده نه | او | د ده پاکی بیانوی | او خاص د ده ته | سجده کوی

د بندگئ ځانونه لوئے نه گڼری او د هغه پاکی بیانوی او هم هغه ته سجدے کوی.

سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسٌ سَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّ عَشَرُ رُكُوْعًا

سورة انفال مدنی ده او په دې کښې | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر رحم کوونکے دے | پنځه اویا آیتونه او لس رکوع کښې دي

شروع کوم د الله په نوم چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ؕ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ ۚ

دوی تپوس کوی له تانه | د مال د غنیمت په حقله | ووایه | د غنیمت مال | د الله | او | د رسول دے

(اے پیغمبره!) خلق تانه د غنیمت د مال په حقله تپوس کوی ووایه چه د غنیمت مال خو د الله او د هغه د رسول دے

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۪ وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ

پس ویریږئ | د الله نه | او په صلح سره اوسیږئ | په خپل مینځ کښې | او | حکم ومنئ | د الله

نو تاسو د الله نه وویریږئ او یو بل سره خپل تعلقات سم ساتئ او د الله او د هغه د رسول

وَ رَسُوْلَهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝١ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ

او د هغه د رسول | که چرے یئ تاسو | مؤمنان | بیشکه چه | مؤمنان | هغه خلق دی

حکم منئ که تاسو مؤمنان یئ . په حقیقت کښې ایماندار بس هم هغه دی

اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَ اِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ

چه هر کله | ذکر وشی د الله | نو وویریږی | د دوی زړونه | او هر کله چه | لوستلے شی | په دوی باندې

چه د الله ذکر واوری نو زړونه ئے رپیږی ، او چه د الله آیتونه ورته ولوستلے

اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّ عَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٢

د هغه آیتونه | نو نور زیات کړی دوی | په ایمان کښې | او | په خپل رب باندې | دوی توکل کوی

شی نو د دوی ایمانونه نور هم مضبوط شی او په خپل رب کامله تکیه لری .

الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝٣

کوم خلق چه | قائموی | مونځ | او | له هغه څه نه چه مونږ ورکړی دی دوی ته | خرچ کوی .

داسے خلق چه د مونځونو پابندی ساتی او مونږ چه ورته کوم رزق ورکړے دے د هغے نه د الله په لار کښې خرچ

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ

هم دا خلق دی | مؤمنان | رښتونی | دوی د پاره دی | درجے | د دوی د رب سره

کوی ، دغه کسان په رښتیا ایماندار دی . د دوی د پاره د خپل رب سره اوچتے مرتبے دی

وَ مَغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝٤ كَمَاۤ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ

او بخښنه ده | او روزی ده | د عزت | لکه څنګه چه | رااووېستلے ته ئے | ستا رب

او بخښنه ده او د عزت روزی ده . (اے پیغمبره! غور وکړه) په کوم انداز کښې ستا رب ته په

مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ۪ وَ اِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

ستا د کور نه | په حق سره | او | بیشکه | یو ډله | د مؤمنانو

حق وصداقت سره د کور نه (جهاد د پاره) راووېستلے حال دا دے چه د مسلمانانو یو ډله ته

لَكٰرِهُوْنَ ۝٥ يُجَادِلُوْنَكَ فِى الْحَقِّ بَعْدَمَا تَبَيَّنَ

(دا خبره) نه خوښوله | هغه ښکاره شوه | پس له دے نه چه | په سمه خبره کښے | دوی تا سره جګړه کوله

داګوانه ښکارېدله. دے خلقو تا سره په حقه خبره کښے د دے د ښکاره کیدو نه پس هم جګړه کوله

كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ۝٦ وَاِذْ يَعِدُكُمُ

لکه چه | دوی شړلے شی | مرګ طرف ته | او دوی | ګوری | او هر کله چه | وعده کوله تاسو ته

لکه چه چا مرګ غاړے ته راښکل او دوی ورته (په سترګو) کتل. او کله چه (د بدر په غزا کښے) الله

اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّوْنَ

الله | د یو | په دوؤ ډلو کښے | چه هغه به | ستاسو وی | او تاسو غوښتله

په دوؤ ډلو کښے د یو ډلی تاسو سره وعده کړے وه چه هغه به ستاسو په قابو کښے راشی او تاسو دا خبره

اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ وَيُرِيْدُ اللّٰهُ

چه | کوم (ډلے) بے وسلے دے | هغه دی | تاسو د پاره | او غوښتل | الله

خوښوله چه بے وسلے ډلے د ستاسو په مقابله کښے راشی، او الله تعالیٰ ته دا منظوره وه

اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ۝٧

چه ثابت کړی | حق | په خپل حکم سره | او پرېکړی | جرړه | د کافرانو

چه په خپل حکم سره حق (عملاً) ثابت کړی او د کافرانو جرړے غوڅے کړی.

لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝٨

چه ثابت کړی | رښتیا | او ورک کړی | دروغ | اګر چه | ناخوښه کړی | (دا) مجرمان خلق

چه حق حق ښکاره کړی او باطل باطل څرګند کړی اګر که دا خبره د مجرمانو خوښه نه وی.

اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّىْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ

کله چه تاسو فریاد کولو | خپل رب ته | نو هغه (دعا) قبوله کړه | ستاسو | چه زهٔ به امداد کوم ستاسو | په یو زر

او کوم وخت چه تاسو خپل رب ته فریاد کولو نو هغه ستاسو دعا قبوله کړه (او ئے فرمائیل) چه زهٔ ستاسو مدد له زر

مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ۝٩ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى

فرښتو سره | یو په بل پسے راتلونکے | او نهٔ ئے جوړ کړے دا (مدد) | الله | مګر | زیرے

فرښتے یو په بل پسے درلیږم. او دا خبره الله نه وکړه چه په تاسو زیرے وشی

وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

او چه اطمینان بیا موی | په دے سره | ستاسو زړونه | او | نهٔ دے مدد | مګر | د الله د طرف نه

او ستاسو زړونه په ځائے شی. او په حقیقت کښے مدد خو صرف د الله تعالیٰ د طرف نه

اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝١٠ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ

بیشکه | الله | ډیر زبردست | د حکمتونو خاوند دے | هر کله چه | هغه راوستله په تاسو | پرکالی

وی. بیشکه الله تعالیٰ غالب او د حکمت خاوند دے. او هغه وخت را یاد کړئ چه الله تعالیٰ په تاسو باندے

ع ١٠ ١٥

اَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً

دَ پاره دَ امن | دَ خپل طرف نه | او راوے وَرَوَلے | په تاسو باندِ | له آسمان نه | اُوبهٔ

ستاسو دَ آرام دَ پارهٔ دَ خپل طرف نه پرکالی راوستله او دَ آسمان نه ئے په تاسو باندِ باران وَرَولو چه

لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ

دَ پارهٔ دَ دے چه پاک کړی تاسو | په دے سره | او لرے کړی | له تاسو نه | پلیتی | دَ شیطان

په دِے سره تاسو پاک کړی او له تاسو نه شیطانی پلیتی (وسوسے) لرے کړی

وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ﴿١١﴾ اِذْ يُوْحِيْ

او چه مضبوط کړی | ستاسو زړونه | او کلک کړی | په دِے سره | قدمونه | کله چه حکم کولو

او دَ پاره دَ دے چه ستاسو زړونه مضبوط کړی او په دِے سره ستاسو قدمونه ټینګ کړی او کوم وخت چه

رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ستا رب | فرښتو ته | چه زهٔ | تاسو سره یم | پس کلک کړئ | مسلمانان

ستا رب فرښتو ته حکم وکړو چه زهٔ تاسو سره یم، نو تاسو دَ مسلمانانو همت زیات کړئ،

سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوْا فَوْقَ

زر دے چه وابه چوم زهٔ | په زړونو کښے | دَ هغو چه | کافران دی | رعب | پس ووهئ تاسو | دَ پاسه

زهٔ به اوس دَ کافرانو په زړونو کښے رعب وغورزوم، نو تاسو دَ دوی څټونه

الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

دَ څټونو | او ووهئ | له دوی نه | (دَ ګوتو) هر بند | دا | ځکه چه دوی

ووهئ او دَ ګوتو په جوړ جوړ ئے ووهئ. دا سزا ځکه ورکړے شوه چه

شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

مخالفت وکړو | دَ الله | او دَ دهٔ دَ رسول | او څوک | چه مخالفت وکړی | دَ الله | او دَ دهٔ دَ رسول

چه دوی دَ الله او دَ دهٔ دَ رسول مخالفت وکړو، او څوک چه دَ الله تعالیٰ او دَ دهٔ دَ رسول مخالفت وکړی

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ

پس بیشکه | الله | سخت عذاب ورکوونکے دے | دا (عذاب دے) | نو وڅکئ دا | او (پوهه شئ) چه کافرانو له

(نو داسے خلقو ته) الله تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے. دا ستاسو سزا ده دا وڅکئ او ریادساتئ!) چه دَ

عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

عذاب | دَ دوزخ دے | اے دَ ایمان خاوندانو! | هر کله چه تاسو مقابله شئ | دَ کافرانو سره

منکرانو دَ پاره دَ دوزخ دَ اور عذاب دے، اے مؤمنانو! هر کله چه دَ کافرانو سره په جنګ کښے

زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ﴿١٥﴾ وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ

په جنګ کښے | نو مه ګرځوئ دَ دوی طرف ته | شا ګانے | او څوک چه | وګرځوی دَ دوی طرف ته | په دغه ورځ | شا خپله

مخامخ شئ نو دَ مقابلے نه مخ مه ګرځوئ، او څوک چه په دغه ورځ دَ دوی طرف ته شا وګرځوی

إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ

مگر چه | راگرځيدونکے وي | دَ جنګ ځ پاره | يا پناه نيونکے وي | يو ډلے طرف ته | نو بيشکه دے راغلو | په غضب کښے

البته که دَ جنګي غرض دَ پاره يا دَ نورو ملګرو سره دَ يو ځائے کيدو دَ پاره داسے وکړي، نو هغه به دَ حق اسے په

مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦﴾ فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ

دَ الله | او ځائے دَ دهٔ | دوزخ دے | او دا ډير بد ځائے دے | پس تاسو ونهٔ وژل دوی

غضب کښے راګير شي او دوزخ به ئے ټيکاونړه شي او هغه ډير خراب ځائے دے. (مسلمانانو!) دوئ تاسو نهٔ

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

ليکن | الله | دوئ وژل دوی | او نهٔ وو ويشتلے تا | (موټے دَ خاورو) کله چه دَ ويشتلو تا | او ليکن الله

دی وژلی بلکه الله وژلی دی. او تا (موټے خاورې) نهٔ وے ويشتلے کوم وخت چه تا ويشتلے وے، بلکه الله

رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ

ويشتلے وو | او دَ پاره دَ دے چه وُ آزمائي | مؤمنان | دَ خپل طرف نه | آزمائيل | ښهٔ | بيشکه الله

ويشتلے وے (دَ مسلمانانو نه ځکه کار وا خيستے شو) چه مسلمانان دَ يو عظيم آزمينت نه په کاميابئ سره ووتلے شي بيشکه

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾ ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ ﴿١٨﴾

آوريدونکے | پوهه دے | دا دے (مدعا) | او دا چه | الله | کمزورے کوونکے دے | تدبير | دَ کافرانو

الله آوريدونکے پوهه دے. دا تاسو فتح ځکه درشوه چه الله ته دَ کافرانو چل ول کمزورے ساتل منظور وو.

إِن تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ ۖ وَإِن تَنتَهُوا فَهُوَ

که چرے تاسو غواړئ فتح | نو راغلے ده تاسو ته | فتح (هم) | او که چرے | تاسو منع شوئ | نو دا

(اے دَ مکے خلقو!) که چرے تاسو فتح غوښتله نو فتح هم راغله، که چرے تاسو منع شوئ نو دا خيره تاسو

خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَعُودُوا نَعُدْ وَلَن تُغْنِيَ عَنكُمْ فِئَتُكُمْ

ډيره ښهٔ ده | تاسو دَ پاره | او که تاسو بيا ځئ دَ کرلو | نو مونږ به هم کوو | او هيڅ کله به په کار رانشي | ستاسو | ستاسو ټولے

دَ پاره ډيره ښهٔ ده او که تاسو بيا نافرماني وکړه نو مونږ به بيا عذاب راولو او تاسو ته خپل ټولے هيڅ قدرے فائده

شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ ۙ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ع

هيڅ (هم) | اګر که هغه ډيرے وي | او دا چه | الله | دَ مؤمنانو سره دے | اے دَ ايمان خاوندانو!

درکونه نهٔ شي اګر که ډير زيات شي او يقيناً الله تعالیٰ دَ مؤمنانو سره دے. اے مؤمنانو!

أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾

حکم ومنئ | دَ الله | او دَ دهٔ دَ رسول | او مخ مهٔ اړوئ | له دهٔ نه | او حال دا دے چه تاسو | آورئ

دَ الله تعالیٰ او دَ دهٔ دَ رسول اطاعت کوئ او دَ حکم آوريدو نه پس ترے نه مخ مهٔ ګرځوئ

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾

او مهٔ کيږئ تاسو | په شان دَ هغه کسانو | چه وئيلي ئے وو | مونږ واوريدل | او دوی | نهٔ آوريدل

او دَ هغه چا په شان مهٔ کيږئ چه دا دعوىٰ کوی چه مونږ واوريدل حال دا دے چه هيڅ هم نهٔ آوري.

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ

بیشکه | زیات خراب ساداړ | د الله په نزد | (هغه) کاڼه | ګونګیان (خلق) دي | کوم چه

د الله تعالیٰ په نزد زیات خراب ساداړ هغه کاڼه او ګونګیان خلق دي چه په هیڅ نه

لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ

عقل نه لري | اوکه چرے پیژندے | الله | په دوی کښے | څه خیر | نو خامخا به ئے اورولي وو دوی ته

پوهیږي. اوکه الله تعالیٰ ته په دوی کښے څه خوبي ښکاریدے نو د آورېدو توفیق به ئے ورکړے وو

وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اوکه چرے | دوی ته ئے آورولے هم وے | نو دوی به خامخا مخ اړولے وو | او دوی دي مخ اړوونکي | اے هغه خلقو

اوکه چرے دوی ته ئے د آورېدو طاقت ورکړے وے نو هم به دوی مخ اړولے وو او تښتیدلي به وو. اے هغه خلقو!

اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ

چه ایمان مو راوړے دے | حکم قبول کړئ | د الله | او | د رسول | کله چه راوبلي تاسو

چه ایمان مو راوړے دے د الله تعالیٰ او د رسول حکم قبول کړئ ځکه چه هغے خبرے ته مو

لِمَا يُحْيِيْكُمْ ۚ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ

هغه (دین) طرف ته | (چه) تاسو ژوندي کوي | او پوهه شئ | چه بیشکه | الله | حائل کیږي | په مینځ د بنده

رابلي چه تاسو پرے ژوندي کیږئ. او یاد لرئ چه الله تعالیٰ د بنده او د هغه د خپل زړه ترمینځه

وَقَلْبِهٖ وَاَنَّهٗۤ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَاتَّقُوْا فِتْنَةً

او د هغه د زړه کښے | او دا چه | هم د هغه طرف ته | به تاسو جمع کولے شئ | او ځان ساتئ | له هغے بلا نه

هم پرده کیږي او بیشکه چه تاسو ټول به هغه ته جمع کیږئ. او د هغے وبال نه ځان بچ کړئ

لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ وَاعْلَمُوْۤا

چه نه به پریوځي | هم په هغه خلقو | کوم چه ظلم وکړو | له تاسو نه | خاص | او پوهه شئ

چه د هغے اثر به خاص هم ظالمانو ته نه رسي، او پوهه شئ

اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۵﴾ وَاذْكُرُوْۤا اِذْ اَنْتُمْ

چه بیشکه | الله | سخت | عذاب ورکوونکے دے | او یاد کړئ | هر کله چه | تاسو وئ

چه الله تعالیٰ په عذاب ورکولو کښے ډیر سخت دے. او هغه وخت را یاد کړئ چه تاسو لږ

قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ

لږ | کمزوري ګڼلے شوي | په زمکه کښے | تاسو به ویریدلئ | له دے نه چه | وبه تښتوي تاسو

وئ، په ملک کښے کمزوري ګڼلی شوئ، تاسو سره به ویره وه چه چرته خلق تاسو

النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ وَ اَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ

خلق | بیا هغه ځاے درکړو تاسو ته | او | قوت ئے درکړو تاسو ته | په خپل مدد سره | او رزق ئے درکړو تاسو ته

ونه تښتوي، نو خدائے درله د استوګنے ځاے درکړو او په خپل مدد سره ئے تاسو مضبوط کړئ او پاکیزه رزق نه

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

له پاکیزه څیزونو نه | چه تاسو | شکر وکړئ | اے د ایمان خاوندانو!

ئے درکړل ، ښائي چه تاسو شکر وباسئ اے مؤمنانو!

لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ وَتَخُوْنُوْۤا اَمٰنٰتِكُمْ

خیانت مه کوئ | د الله | او | د رسول سره | او خیانت (مه) کوئ تاسو | په امانتونو د یو بل کښے

د الله او د رسول سره خیانت مه کوئ او د یو بل په امانتونو کښے هم خیانت مه کوئ

وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّمَاۤ اَمْوَالُكُمْ

او حال دا چه تاسو | پوهیږئ | او پوهه شئ | چه بیشکه | ستاسو مالونه

سره د دے چه تاسو پوهیږئ او پوهه شئ چه ستاسو مالونه او ستاسو اولاد

وَ اَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾ ٣ ع ٩ ١٧

او | اولاد ستاسو | ازمیښت دے | او دا چه | د الله سره دے | اجر | ډیر لوئے

خو په حقیقت کښے د ازمیښت سامان دے او الله تعالیٰ سره چه کوم اجر دے هغه ډیر لوئے دے

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا

اے د ایمان خاوندانو! | که چرے ویریږئ تاسو | د الله نه | نو هغه به جوړ کړي | تاسو ته | امتیاز د (په حق او باطل کښے)

اے مؤمنانو! که چرے تاسو د الله تعالیٰ نه ویره کوئ نو هغه به تاسو ممتاز کړي

وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ

او لرے به کړي | له تاسو نه | ستاسو بدیانے | او وبه بخښي | تاسو | او الله

او له تاسو نه به ستاسو ګناهونه لرے کړي ، او تاسو به وبخښي او الله

ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾ وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د لوئے فضل خاوند دے | او هغه کله چه | تدبیر کولو | ستا خلاف | کافرانو

د لوئے فضل خاوند دے۔ او (اے پیغمبره! یاد کړه) کله چه کافرانو ستا په باره کښے تدبیرونه کول

لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ اَوْ يُخْرِجُوْكَ ؕ وَيَمْكُرُوْنَ وَ

چه دوی قید کړی تا | یا دوی وژنی تا | یا له وطن نه اوباسی تا | او دوی هم تدبیر کولو | او

چه تا قید کړي یا دے مړ کړي یا د وطن نه دے اوباسي ، دے خلقو تدبیر کولو او

يَمْكُرُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿٣٠﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ

الله هم تدبیر کولو | او الله | د ټولو نه ښه | تدبیر کوونکے دے | او هغه کله چه | لوستلے شی | په دوی باندے

الله تعالیٰ هم تدبیر کولو او الله تعالیٰ ډیر ښه تدبیر کوونکے دے او هغه کله چه دوی ته زمونږ آیتونه

اٰيٰتُنَا قَالُوْا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَاۤ ۙ

زمونږ آیتونه | نو وائي | مونږ اوریدلی دی | که چرے مونږ وغواړو | نو وبه وایو مونږ هم | په شان د دے (کلام)

ولوستے شی نو وائي چه مونږ واوریدل ، که مونږ وغواړو نو مخپله به هم دغسے جوړ کړو

إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ

نه دی دا | مګر صرف | قصے | د پخوانو دی | او هرکله چه | وویل دوی | اے الله!

دا خو هیڅ نه دی تشے هغه د پخوانو خلقو زړے قصے دی اوهرکله چه دوی وویل وو چه اے الله!

إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً

که چیرے وی | دا (اسلام) | رښتینے (دین) | ستا د طرف نه | نو ووروه | په مونږ باندې | کانړی

که چیرے ستا د طرف نه هم دا (دین) برحق دے، نو په مونږ باندې له آسمان نه د کانړو

مِنَ السَّمَآءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَا كَانَ اللَّهُ

له آسمان نه | یا راوله په مونږ | عذاب | دردناک | او نه دے | الله

باران ووروه یا په مونږ باندې څه بل دردناک عذاب راوله. او الله تعالیٰ نه غواړی چه

لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ

چه عذاب ورکړی دوی ته | او ته موجود یې په دوی کښې | او نه دے الله | عذاب ورکوونکے دوی ته | او دوی

دوی له عذاب ورکړی ترڅو چه ته پکښے موجود یې. او نه الله تعالیٰ دا سے خلقوله عذاب ورکوی چه

يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ

بخښنه غواړی | او څه وجه ده دوی د پاره | چه عذاب به ورنه کړی دوی ته | الله | او حال دا دے چه دوی منع کوی

هغوی استغفار کوی، خو اوس به الله تعالیٰ په دوی ولے عذاب نه راولی؟ چه هغوی نور خلق

عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓا أَوْلِيَآءَهُ ۚ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُ

(خلق) د مسجد حرام نه | او نه دی دوی | د دے مختار | نه دی | د دے مختار

د مسجد حرام نه منع کوی سره د دے چه جائز متولیان ئے هم نه دی، د دے متولیان خو صرف

إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ

مګر (صرف) پرهیزګار (خلق) | لیکن | اکثر له دوی نه | نه پوهیږی | او نه دو

پرهیزګار خلق کیدے شی، خو اکثر خلق په دے نه پوهیږی. او د بیت الله

صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا

مونځ د دوی | د بیت الله په خوا کښے | مګر شپیلی وهل | او لاسونه پړقول | پس وڅکئ

په خوا کښے د دوی مونځونه څه وو خو شپیلی وهل او لاسونه پړقول، نو دا ے کافرانو! د

الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ

عذاب | د هغے په بدل کښے | چه تاسو به انکار کولو | بیشکه | کوم خلق چه | کافران دی | هغوی خرڅ کوی

خپل انکار په سبب د عذاب مزه وڅکئ. چا چه د حق نه انکار کړے دے (او) هغوی

أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَسَيُنْفِقُونَهَا

خپل مالونه | د پاره د دے چه منع کړی (خلق) | د الله د لارے نه | پس زر ده چه دوی به خرڅ کړی دا

خپل مالونه په دے پسے لګوی چه خلق د الله تعالیٰ د لارے نه منع کړی، نو لا به نور مالونه هم لګوی

ثُمَّ تَكُوْنُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُوْنَ ۥ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا
بیا به هغه وی | په دوی باندې | (د چه دَ) افسوس | بیا به | دوی مغلوبه کړے شي | او کوم خلق چه کافران دی
او بیا به دے دا خرڅونه دَ افسوس سبب وګرځي او بیا (آخر) به بیلات وکړی ، او ټول کافران به
اِلٰى جَهَنَّمَ يُحْشَرُوْنَ ۳۶ لِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ
هم دوزخ طرف ته | به جمع کړے شي | دَ پاره دَ دې چه جدا کړی الله | ناپاکه | له پاک نه
دوزخ ته راغونډ وے شي . چه الله تعالیٰ ګندا خیزونه دَ پاکیزه خیزونو نه بیل کړی
وَيَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا
او کیږدی | ناپاکه | ځینے له دوی نه | په ځینو باندې | بیا (یو ځائے) ډیر جوړ کړی | دَ دے ټولو
او بیا ناپاکه خیزونه په یو بل باندې کیږدی ، دَ دے ټولو یو ډیرے جوړ کړی ، بیا دا ډیرے
فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۳۷ قُلْ
بیا هغه (ډیرے) وغورزوی | په دوزخ کښے | هم دا خلق دی | نقصان موندونکی | ووایه
دوزخ ته وروغورزوی ، هم دغه خلق دی چه په زیان کښے پراته دی . کافرانو ته
لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّنْتَهُوْا يُغْفَرْ لَهُمْ مَّا قَدْ سَلَفَ ۚ
هغه خلقو ته | چه کافران دی | که چرے دوی منع شي | نو بخښنه به وشي | دوی ته | دَ هغه څه چه تیر شول
ووایه چه که دوی اوس هم منع شي نو تیر شوی ګناهونه به ورته و بخښلے شي او که بیا بیا (نافرمانی)
وَاِنْ يَّعُوْدُوْا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْاَوَّلِيْنَ ۳۸
او که چرے | دوی بیا دا سے وکړی | پس بیشکه تیر شوے دے | حالت | دَ مخکښینو خلقو
کوی ، نو دَ پخوانو قومونو سره چه څه شوی دی هغه ښکاره دی .
وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ
او جنګ کوئ دوی سره | تر دے چه | پاتے نهٔ شي | فتنه | او پاتے شي | دین
او تر هغے وخته دوی سره جنګیږئ چه فتنه باقی پاتے نهٔ شي ، او ټول دین یوازے دَ
كُلُّهٗ لِلّٰهِ ۚ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ
ټول | الله دَ پاره | پس که چرے | دوی منع شي | نو بیشکه | الله | هغه څه ته | چه دوی ئے کوی
الله تعالیٰ شي ، نو که چرے دوی (دَ فتنے نه) منع شي نو بیشکه الله تعالیٰ دَ دوی عملونو ته
بَصِيْرٌ ۳۹ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ
(ښهٔ) ګوری | او که چرے | دوی مخ وګرځولو | نو پوهه شئ | چه | الله
ګوری ، او که چرے دوی مخ واړوی نو یقین وساتئ چه الله تعالیٰ ستاسو
مَوْلٰىكُمْ ؕ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ۴۰
ستاسو ملګرے دے | (څهٔ) ښهٔ | ملګرے (دے) | او (هم څهٔ) ښهٔ | مدد کوونکے دے
کارساز دے او هغه څهٔ ښهٔ ملګرے دے او څهٔ ښهٔ مددګار دے .

ع ۹ ۱۸

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ

او پوهه شئ | چه هغه څه | چه غنیمت کښے بیامونډلی تاسو | له هر جنس نه | نو الله ډ پاره دی | ډ دے پنځمه برخه

او تاسو ته دِ معلومه شي چه کوم څیز تاسو په غنیمت کښے بیا مونډلو ، نو په هغے کښے پنځمه برخه ډ الله تعالیٰ

وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ

او ډ رسول ډ پاره | او ډ خپلوانو ډ پاره | او یتیمانو | او مسکینانو | او مسافرو (ډ پاره)

او ډ رسول دی او ډ هغهٔ ډ خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او مسافرو دی

اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا

کهٔ چرے تاسو ایمان راوړے وی | په الله | او په هغه (کتاب) باندې چه نازل کړه مونږ | په خپل بندهٔ باندې

کهٔ تاسو په الله تعالیٰ باندې ایمان لرئ ، او په هغه (کتاب) چه مونږ ډ فیصلے په ورځ یعنی ډ دواړو ډلو

يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

په حق او باطل کښے ډ فیصلے په ورځ | په کومه ورځ | چه یو ځائے راغلے | دوه ښکرے | او الله | په هر څیز باندې

ډ مقابلے په ورځ ، په خپل بنده باندې نازل کړے دے او الله تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت

قَدِيْرٌ ﴿٤١﴾ اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى

قادر دے | کله چه تاسو وئ | په غاړه | نږدے باندې | او دوی وو | په غاړه | لرے باندې

لری ، دا هغه وخت وو کله چه تاسو (ډ مدینے) نږدے والا غاړه باندې وئ او هغه (کفار) په لرے غاړه باندې وو

وَالرَّكْبُ اَسْفَلَ مِنْكُمْ ؕ وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ

او قافله (وه) | ښکته | له تاسو نه | او کهٔ تاسو ډ یو بل سره وعدهٔ کولے (ډ جنګ) | نو اختلاف به کولو تاسو

او (ډ تجارت) قافله تاسو نه ښکته (بیچ بیچ) تلله او کهٔ چرے تاسو ډ یو بل سره ډ جنګ په حقله څهٔ وعدهٔ کولے نو تاسو به

فِى الْمِيْعٰدِ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۙ۬

په وعده کښے | لیکن | چه پوره کړی | الله له | یو کار | چه کیدونکے وو

نهٔ وئ رسیدلی وعدے ته خو (څهٔ چه وشول هغه ځکه وشول) چه الله تعالیٰ یو داسے کار پوره کړی کوم چه هغهٔ کولو .

لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْۢ بَيِّنَةٍ وَّيَحْيٰى مَنْ حَيَّ عَنْۢ بَيِّنَةٍ ؕ

چه هلاک شی | هغه څوک چه هلاک شو | په دلیل سره | او ژوندی پاتے شی | هغه څوک چه ژوندی پاتے شو | په دلیل سره

هغه دا چه څوک تباه کیږی هغه په ښکاره دلیل تباه کړی او څوک چه ژوندی پاتے کیږی هغه په واضح دلیل ژوندی پاتے

وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ

او بیشکه | الله | آوریدونکے | پوهه دے | هر کله چه ښودل تا ته دوی | الله | ستا په خوب کښے

شی او الله تعالیٰ هر څهٔ آوری په هر څهٔ پوهه دے . هغه وخت را یاد کړه چه الله تعالیٰ هغوی (کافران) تا ته په

قَلِيْلًا ؕ وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ

لږ | او کهٔ ښودلے وے تا ته دوی | ډیر | نو خامخا به زړهٔ بائیللے وو تاسو | او خامخا به اختلاف کولو تاسو

خوب کښے لږ ښکاره کول او کهٔ درته ئے ډیر ښکاره کړی وے نو تاسو به همت بائیللے وو او په دے معامله کښے به مو

فِي الْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤٣﴾

په دے معامله کښے | او لیکن | الله | بچ وساتلئ | بیشکه هغه | ښه پیژنی | دَ سینو خبرے

جګړه شروع کړے وه ، لیکن الله تعالیٰ تاسو بچ کړئ یقیناً الله تعالیٰ ته دَ زړونو حال ډیر ښهٔ معلوم دے

وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا

او هر کله چه | هغهٔ ښودل تاسو ته | دوی | کله چه تاسو مخامخ شوئ | په سترګو ستاسو کښے | لږ

او را یاد کړئ چه دَ مقابلے په وخت کښے الله تعالیٰ تاسو ته دُښمنان کم ښکاره کول،

وَيُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۚ

او لږ ئے ښکاره کړئ تاسو | په سترګو دَ هغوئ کښے | چه پوره کړی | الله | هغه کار | چه کیدونکے ؤ

او تاسو ئے دښمنانو ته کم ښکاره کولئ چه الله هغه کار پوره کړی کوم چه فیصله کړے شوے دے

وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤٤﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ

او الله طرف ته | واپس کولے شی | (ټول) کارونه | اے دَ ایمان خاوندانو! | کله چه تاسو مقابله شئ

او ټول معاملے صرف الله تعالیٰ ته راجمع کیږی. اے مؤمنانو! هر کله چه یو ټولی سره ستاسو

فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾

یو ټولی سره | نو کلک ؤدریږئ | او یاد کړئ | الله | ډیر | دَ پاره دَ چه تاسو | کامیاب شئ.

مقابله راشی نو ثابت قدم ؤدریږئ او الله تعالیٰ ډیر ډیر یاد دَ کړئ چه تاسو کامیاب شئ.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ

او حکم منئ | دَ الله | او دَ دهٔ دَ رسول | او دَ یو بل سره جګړے مهٔ کوئ | ګنی بزدله به شئ | او ولاړه به شی

او دَ الله تعالیٰ او دَ دهٔ دَ رسول حکم منئ، او په خپل مینځ کښے جګړے مهٔ کوئ ګنی بزدله به شئ او ستاسو رُعب

رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُونُوا

رُعب ستاسو | او صبر کوئ | بیشکه | الله | سره (دے) | دَ صبر کوونکو | او مهٔ کیږئ

به ختم شی او صبر کوئ الله تعالیٰ دَ صابرانو خلقو ملګرے دے. او دَ هغه خلقو

كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ وَ

په شان دَ هغو خلقو | چه ؤوتل | دَ خپلو کورونو نه | په غرور سره | او خلقو ته په ځان ښودلو سره | او

په شان مهٔ کیږئ چه دَ خپلو کورونو نه په غرور سره او خلقو ته دَ ښودنے په خیال راووتل او

يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾

او منع کوی (خلق) | دَ الله دَ لارے نه | او الله | په هغه څهٔ | چه دوی ئے کوی | راچاپیره دَے

خلق ئے دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه منع کول او الله تعالیٰ دَ دوی په کارونو احاطه کوونکے دے

وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ

او کله چه ښائسته کړل | دوی ته | شیطان | عملونه دَ دوی | او وئے وئیل | چه څوک هم غالب نهٔ شی راتلے په تاسو

او کوم وخت چه شیطان ورته دَ دوی کارونه ښائسته ښکاره کړل او ورته ئے دَ وئیل چه نن هیڅوک بنی آدم

الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ

نن | له خلقو نه | او بيشكه زه مددګار يم | ستاسو | بيا هر كله چه | مخامخ شولے

په تاسو غلبه نه شي موندے او زه ستاسو ملګرے يم ، خو هر كله چه دواړه ډلے

الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَقَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكُمْ

دواړه ډلے | نو هغه واپس وګرځيدو | په پوندو خپلو | او وے وئيل | بيشكه زه | بيزاره يم | له تاسو نه

مخامخ شوے نو هغه په اړولو شپو وتښتيدو او وے وئيل چه زه تاسو نه بيزاره يم ،

اِنِّيْٓ اَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ ۭ وَاللّٰهُ

بيشكه زه | وينم | هغه څه چه | تاسو نه وينئ | بيشكه زه | ويريږم | د الله نه | او الله

زه هغه څه وينم چه تاسو ته نه ښكاري ، زه د خدائے نه ويريږم ، او خدائے

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۴۸ اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

سخت عذاب وركوونكے دے | هر كله چه وئيل | منافقانو | او هغه خلقو | چه په زړونو كښي ئے

په عذاب وركولو كښے ډير سخت دے . هغه وخت را ياد كړئ چه منافقانو او هغه خلقو چه په زړونو كښے ئے

مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ ۭ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ

مرض دے | مغرور كړي دي | دوی | دين د دوی | او څوک چه | توكل وكړي | په الله بانے

(د كفر) مرض پروت دے وئيل چه دوی (مسلمانان) په خپل دين نازيږي ، او څوک چه په الله تعالىٰ توكل وكړي

فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۴۹ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى

نو بيشكه | الله دے | ډير زبردست | د حكمت خاوند | او كه چرے | وو ينے ته | كله چه | روحونه وباسي

نو بيشكه الله تعالىٰ غالب او د حكمت خاوند دے . او كاش! چه ته هغه وخت وو ينے كله چه فرښتے

الَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ۚ

د هغو | چه كافران دي | فرښتے | ګزارونه كوي | په مخونو د دوی | او په شاګانو د دوی

د كافرانو روحونه قبض كوي ، هغوی د دوی په مخونو او د دوی په شاګانو ګزارونه كوي او (وائي چه)

وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۵۰ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ

او (وائي) چه وڅكئ | عذاب | سوزوونكے | دا دے | د هغه عمل په سبب | چه وړاندے ليږلے دے

د سوزوونكي اور عذاب وڅكئ . دا سزا د هغو عملونو په وجه ده چه تاسو په خپلو

اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۵۱ ۙ كَدَاْبِ

ستاسو لاسونو | او دا چه الله | نه دے | ظلم كوونكے | په خپلو بندګانو | لكه چه حال شو

لاسونو وړاندے ليږلي دي او يقيناً الله تعالىٰ په خپلو بندګانو باندے ظلم نه كوي . د دوی حالت د

اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

د قوم د فرعون | او د هغو خلقو | چه له دوی نه وړاندے وو | چه دوی انكار كړے وو | د ايتونو | د الله

فرعون د قوم په شان دے او د هغو خلقو په شان چه له دوی نه وړاندے وو ، دوی د الله تعالىٰ د ايتونو نه انكار وكړو

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِیٌّ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿٥٢﴾

بیا ونیول دوی | الله | په ګناهونو د دوی | بیشکه الله | ډېر طاقتور | سخت عذاب ورکوونکی دے

نو الله تعالی په خپلو ګناهونو کښې راونیول ، بیشکه الله تعالی زور آور دے او په عذاب ورکولو کښې ډیر سخت دے

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ یَكُ مُغَیِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰی قَوْمٍ

دا | خکه چه | الله | هیڅ کله نه دے | بدلوونکے | (هغه) نعمت | کوم چه ده ورکړے وی | یو قوم ته

دا ځکه چه الله تعالی په یو قوم انعام وکړی نو هغه نه بدلوی ،

حَتّٰی یُغَیِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ

تر دے چه | بخپله دوی بدل کړی | څه چه | د دوی په زړونو کښې دے | او چه | الله | اوریدونکے

ترڅو چه هغوی په بخپله خپل عمل بدل نه کړی او الله تعالی هرڅه اوری

عَلِیْمٌ ﴿٥٣﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

پوهه دے | په شان د حال | د قوم د فرعون | او د هغو خلقو | چه له دوی نه وړاندې وو

په هرڅه پوهه دے. لکه د فرعون قوم سره او د هغوی نه مخکې نو خلقو سره چه وشول

كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَاۤ

دوی دروغ وګڼل | آیتونه د رب خپل | بیا مونږ هلاک کړل دوی | د دوی د ګناهونو په سبب | او مونږ غرق کړو

هغوی د خپل رب آیتونه دروغ وګڼل ، نو مونږ دوی د خپلو ګناهونو په سزا کښې تباه کړل او د فرعون

اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِیْنَ ﴿٥٤﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ

قوم د فرعون | او ټول | وو | ظالمان | بیشکه | ډیر زیات بد | ساه دار

قوم مو ډوب کړو او هغوی ټول ظالمان خلق وو . بیشکه د الله تعالی په نزد هغه خلق کوم چه

عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٥﴾ اَلَّذِیْنَ

د الله په نزد | هغه خلق دی | چه انکار ئے وکړو (د حق) | پس دوی | ایمان نه راوړی | هغه خلق چه

د کفر لاره غوره کړی ، ډیر بد حیوانان دی نو دوی به هیڅ کله ایمان نه راوړی ، د هغوی دا

عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ یَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِیْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ

وعده کړے ده | دوی سره | بیا | دوی ماتوی | خپله وعده | په هر ځل | او دوی

حال دے چه تا ترے وعده اخستې ده ، بیا هغوی خپله وعده هر ځل ماتوی ، او د الله تعالی

لَا یَتَّقُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِی الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ

پرهیز نه کوی | پس که چرے | ته بیا موم دوی | په جنګ کښې | نو وزغلوه د دوی په ذریعه (په مرعوبولو)

نه ویره نه کوی او که ته دوی په جنګ کښې راقابو کړے (نو داسے سزا ورکړه چه) نور دروستنی

مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ یَذَّكَّرُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ

کوم چه د دوی نه وروستو دی | چه دوی | نصیحت حاصل کړی | او که چرے ته ویریږے | له یو قوم نه

خلق پرے هم وویریږی شاید چه د دے نه سبق واخلی . او که د یو قوم نه د خیانت کولو

خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

دَ خيانت | نو وغورزوه | دوى طرف ته | (دَ دوى وعده) دَ برابرئ په بنياد | بيشكه الله | نهٔ خوښوى

ويره كيږى ، نو هغوى ته معاهده واپس كړه چه برابر شى ، بيشكه خيانت كوونكى دَ خدائے

الْخَآئِنِيْنَ ﴿٥٨﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَبَقُوْا ؕ اِنَّهُمْ

خيانت كوونكى | او دا خيال دِ نهٔ كوى | هغه خلق | چه كافران دى | چه وړاندې شول | بيشكه دوى

خوښ نهٔ دى . او كافران دِ دا خيال نهٔ كوى چه دوى (زمونږ دَ گرفت نه) تښتيدلى دى، يقيناً دا

لَا يُعْجِزُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ

مونږ عاجزه كولے نهٔ شى | او تاسو تيار ساتئ | دوى دَ پاره | څومره چه تاسو كيدلے شى | قوت

خلق (الله تعالىٰ) نهٔ شى عاجزه كولے . او دَ دوى مقابلے له تيار كړئ څومره چه مو وس رسى،

وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ

او | تيار | آسونه | چه تاسو وويروئ | په هغے سره | دَ الله دښمنان | او خپل دښمنان

او تيار تړلى اسونه چه دَ الله تعالىٰ په دښمنانو او په خپلو دښمنانو باندې رعب كينوئ

وَّاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا

او نور خلق | دَ دوى نه علاوه | چه تاسو نهٔ پيژنئ هغوى | هم الله پيژنى هغوى | او څهٔ چه تاسو خرچ كوئ

او دَ دوى نه علاوه په نورو خلقو چه تاسو ئے نهٔ پيژنئ الله ئے ډير ښهٔ پيژنى ، او تاسو چه دَ الله تعالىٰ

مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ

له څهٔ څيز نه | په لاره كښے | دَ الله | پوره (اجر) به دركړے شى | تاسو ته | او په تاسو

په لاره كښے څهٔ خرچ كوئ نو دَ هغے پوره پوره بدله به دركړے شى ، او په تاسو به

لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَ

به ظلم نهٔ كيږى | او كهٔ چرے دوى مائل شى | صلحے طرف ته | نو ته هم مائل شه | دَ هغے طرف ته | او

زياتے نهٔ كيږى . او كهٔ چرے دوى صلح ته مائل شى نو ته هم ورته مائل شه او

تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦١﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا

توكل وكړه | په الله باندې | بيشكه هم هغه | آوريدونكے | پوهه دے | او كهٔ چرے دوى اراده وكړى

په خدائے توكل وكړه هغه هر څهٔ آورى په هر څهٔ پوهه دے . او كهٔ دوئ تا سره

اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ

چه دوكه دركړى تا ته | نو بيشكه | كافى دے تا له | الله | هم هغه دے كوم چه | قوت دركړو تا ته | په خپل مدد سره

دَ دوكے كولو اراده وكړى نو تا له يوازے خدائے بس دے ، هم ده تا ته په خپل مدد سره او دَ مؤمنانو

وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾ وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا

او په مؤمنانو سره | او محبت ئے واچولو | دَ دوى په زړونو كښے | كهٔ چرے خرچ كړے وے تا | هغه څهٔ

په ذريعه قوت دركړو او دَ دوى په زړونو كښے ئے محبت واچولو ، كهٔ تا دَ زمكے په مخ موجوده

فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

چه په زمکه کښے دی | ټول | نو اُلفت به نهٔ وو اچولے تا | په مینځ دَ زړونو دَ دوی کښے | او لیکن هم الله

ټول مالونه خرچ کړے وے ، نو هم دِ دوی په زړونو کښے محبت نهٔ شو پیدا کولے ، لیکن الله تعالیٰ

أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (٦٣) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ

محبت واچولو | دَ دوی مینځ کښے | بیشکه هغه | ډیر زبردست | حکمت خاوند دے | اے نبی!

په دوی کښے محبت پیدا کړو ، هغه غالب او دَ حکمت خاوند دے . اے پیغمبره!

حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (٦٤) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ

کافی دے تا دَ پاره | الله | او کوم چه ستا په حکم چلیږی | مؤمنان | اے نبی!

تا دَ پاره الله تعالیٰ او هغه مؤمنان چه تا پسے روان دی کافی دی . اے نبی!

حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ

را اوچت کړه | مؤمنان | جنګ ته | که چرے وی | له تاسو نه | شل کسان

مسلمانانو ته دَ جهاد ترغیب ورکړه ، که په تاسو کښے شل تنه صابره سړی

صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ

صبر کوونکی | نو غالب به شی | په دوه سوه باندې | او که چرے وی | له تاسو نه | ۱۰۰ سل کسان

وی نو په دوه سوو (کافرانو) به غالب راشی ، او که ستاسو سل سړی وی

يَغْلِبُوا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ (٦٥)

نو غالب به شی | په زرو کسانو | له هغو خلقو نه | چه کافران دی | ځکه چه دوی | (دا هغه) خلق دی | چه نهٔ پوهیږی

نو دَ کافرانو په زرو کسانو به غالب راشی ، ځکه چه دا (کافران) داسے خلق دی چه نهٔ پوهیږی

الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ۚ

اوس | کم کړو (بوج) | الله | له تاسو نه | او | هغه پوهه دے | چه | په تاسو کښے | کمزوری ده

اوس الله تعالیٰ ستاسو بوجے سپک کړو ، ولے چه هغه پوهیږی چه په تاسو کښے کمزوری ده

فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ۚ

پس که چرے وی | له تاسو نه | یو سل | صبر کوونکی | نو دوی به غالب وی | په دوه سوو باندې

نو که په تاسو کښے سل تنه صابره سړی وی ، نو په دوه سوو باندې به غالب راشی

وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ

او که چرے وی | له تاسو نه | یو زر | نو غالب به وی | په دوه زرو باندې | دَ الله په حکم | او الله

او که په تاسو کښے زر تنه وی نو دَ الله تعالیٰ په حکم به په دوه زرو باندې غلبه بیاموی او الله

مَعَ الصَّابِرِينَ (٦٦) مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ

سره | دَ صابرانو دے | نهٔ دی مناسب | نبی له | چه وی دَ هغهٔ سره | قیدیان

دَ صابرانو ملګرے دے . یو نبی له دا مناسب نهٔ دی چه هغهٔ سره دِ قیدیان پاتے شی

حَتّٰى يُثْخِنَ فِى الْاَرْضِؕ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَاۖۗ

ترڅو چه | غلبه بيا مومي | په ځمکه کښې | تاسو غواړئ | مال | د دنيا

ترڅو چه هغه په وطن کښې دښمن نابُود نه کړي ، تاسو خو د دنيا مال متاع غواړئ

وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۶۷ لَوْلَا كِتٰبٌ

او الله | غواړي | آخرت | او الله دے | ډير زبردست | د حکمت خاوند | که نه وے | ليکلے شوے (حکم)

او الله ستاسو د آخرت فائدے غواړي او الله تعالىٰ غالب او د حکمتونو خاوند دے. که د الله تعالىٰ ليک

مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيْمَاۤ اَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝۶۸

د الله | د وړاندې نه | نو ضرور به رسيدلے وو | په دے باره کښې | چه واخستلو تاسو (فديه) | عذاب | لوئے

د وړومبے نه د مقدر شوے ، نو تاسو ته به په دے اخستى مال لوئے عذاب درکړے شوے وو.

فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖؗ وَّاتَّقُوا اللّٰهَؕ

پس خورئ | له هغه څه نه چه | په غنيمت واخستلو تاسو | حلال پاک مال | او ويريږئ | له الله نه

نو څه چه تاسو ته د غنيمت په مال کښې ملاؤ شوي دي هغه حلال او پاک گڼړئ او خورئ . او د الله تعالىٰ نه ويره کوئ

ع ۹ ۵

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۶۹ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّمَنْ فِىْۤ اَيْدِيْكُمْ

بيشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | اے نبي ! | د وايه | هغه چا ته چه | ستاسو په لاسونو کښې

بيشکه الله تعالىٰ بخښونکے مهربان دے. اے پيغمبره ! ستاسو په قبضه کښې چه کوم قيديان دي

مِّنَ الْاَسْرٰۤىۙ اِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ فِىْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ خَيْرًا

له قيديانو نه | که چرے وپيژنى | الله | ستاسو په زړونو کښې | نيکي | نو تاسو له به درکړي | ډير ښه

هغوی ته ووايه که الله تعالىٰ ته معلومه شي چه ستاسو په زړونو کښې خير دے نو تاسو له به د هغې نه بهتر

مِّمَّاۤ اُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۷۰

له هغه څه چه واخستے شول | له تاسو نه | او معاف به کړي | تاسو | او الله | بخښونکے | مهربان دے

(مال) درکړي کوم چه تاسو نه اخستے شوے دے او ستاسو گناهونه به وبخښي او الله تعالىٰ بخښونکے مهربان دے .

وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ

او که چرے دوی اراده وکړي | "تاسو سره د خيانت کولو | نو دوی خيانت کړے دے | د الله سره | له دے نه وړاندې (هم)

خو که دوی دې تاسو سره خيانت کول غواړي نو له دے نه وړاندے ئے د الله تعالىٰ سره خيانت کړے وو

فَاَمْكَنَ مِنْهُمْؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝۷۱ اِنَّ الَّذِيْنَ

بيا هغه قابو درکړو (تاته) | په دوی باندې | او الله | پوهه | د حکمت خاوند دے | بيشکه هغه خلق چه

نو الله تعالىٰ ستاسو په لاس گرفتار کړل او الله تعالىٰ په هر څه پوهه د حکمت خاوند دے . بيشکه چا چه ايمان

اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِىْ سَبِيْلِ

ايمان ئے راوړے دے | او هجرت ئے وکړو | او جهاد ئے وکړو | په مالونو خپلو | او په ځانونو خپلو سره | په لاره کښې

راوړے دے او هجرت ئے کړے دے او د الله تعالىٰ په لاره کښې ئے په خپل سر و مال سره جهاد هم

اللهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ

دَ الله | او هغه خلقو چه | پناه ئے ورکړه | او مدد ئے وکړو | هم دا خلق دي | (چه) ځنے له دوئ نه وارثان دي | (رښتيني دوستان دي)

کړے دے او چا چه هغوئ له ځائے ورکړے دے او د هغوئ امداد ئے کړے دے ، دغه ټول خلق د يو بل ملګري

بَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ

د ځنو | او هغه خلق چه | ايمان ئے راوړو | او هجرت ئے ونه کړو | نشته دے تاسو له | د دوئ له وراثت نه

رښتيني دوستان دي او چا چه ايمان راوړے دے او هجرت ئے نه دے کړے ، هغوئ سره ستاسو د خپلوئ هيڅ

مِّنْ شَيْءٍ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا ۚ وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ

هيڅ څيز | ترڅو چه | دوئ هجرت وکړي | او که چرے | دوئ مدد وغواړي له تاسو | د دين په باره کښے

تعلق نشته ، ترڅو چه هجرت ونه کړي ، او که هغوئ د دين په معامله کښے تاسو نه امداد وغواړي

فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ اِلَّا عَلٰى قَوْمٍ ۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ ؕ

نو تاسو باندے لازم دي | مدد کول | مګر په هغه قوم | چه ستاسو په مينځ کښے | او د هغوئ په مينځ کښے | معاهده وي

نو مدد ورکول په تاسو فرض دي خو د داسے قوم خلاف نه چه ستاسو او د هغوئ ترمينځه معاهده وي ،

وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٧٢﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ

او الله | هغه څه ته | چه تاسو کوئ | ګوري | او کوم خلق چه | کافران دي | ځنے له دوئ نه | وارثان دي

او (بادشاهئ) چه الله تعالیٰ ستاسو عملونه ګوري وينې ـ او څوک چه کافران دي هغوئ په خپل مينځ کښے دوستان

بَعْضٍ ؕ اِلَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْاَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ﴿٧٣﴾ؕ

د ځنو | که چرے تاسو دا ونه کړئ | نو وي به | فتنه | په زمکه کښے | او فساد | ډير لوئے ـ

او وارثان دي ، که چرے تاسو په دے حکمونو عمل ونه کړو نو په ملک کښے به غټه فتنه او ډير لوئے فساد جوړ شي ـ

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ

او هغه خلق | چه ايمان ئے راوړو | او هجرت ئے وکړو | او جهاد ئے وکړو | په لاره کښے | د الله

او چا چه ايمان راوړے دے او هجرت ئے کړے دے او د الله تعالیٰ په لاره کښے ئے جهاد کړے دے

وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ

او کومو خلقو چه | ځائے ورکړو | او مدد ئے وکړو | هم دوئ دي | مؤمنان | رښتيني

او چا چه هغوئ له ځائے ورکړے دے او د هغوئ مدد ئے کړے دے ، دغه کسان ټول په حقه مؤمنان دي ـ

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٤﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْ ۢ بَعْدُ

دوئ له ده | بخښنه | او روزي | د عزت | او کومو خلقو چه | ايمان راوړو | پس له دے نه

هغوئ له بخښنه او د عزت روزي ده ـ او چا چه په وروستنو ورځو کښے ايمان راوړو او

وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا مَعَكُمْ فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ

او هجرت ئے وکړو | او جهاد ئے وکړو | ستاسو په ملګرتيا کښے | هغوئ هم له تاسو نه دي | او نزدے خپلوان

هجرت ئے وکړو او ستاسو په ملګرتيا کښے ئے جهاد وکړو نو هغوئ هم تاسو سره شمير شول ، خو ويښه رشته دار

بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿٧٥﴾

ځنې له دوی نه | زیات حقدار دي | د ځنو | د الله په کتاب کښې | بیشکه الله | هر څیز | ښه پیژنی .

د خدائے په کتاب کښې د یو بل نه زیات حقدار دی ، بیشکه الله تعالیٰ په هر څه ښه پوهه دے .

سُوْرَةُ التَّوْبَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّتِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة توبه په مدینه کښې نازل شوې او په دې کښې یو سل یو کم دیرش آیتونه او شپاړس رکوع ګڼلے دی

سورة توبه مدنی دے او د دے یو سل یو کم دیرش آیتونه او شپاړس رکوع ګڼلے دی

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ اِلَى الَّذِیْنَ عٰهَدْتُّمْ

د بیزارۍ اعلان دے | د الله او د ده د رسول د طرف نه | هغو خلقو طرف ته | (کومو سره چه) تاسو وعده کړې وه

(اے مؤمنانو !) د بیزارۍ اعلان دے د خدائے او د رسول د طرف نه هغه مشرکانو ته چه تاسو ورسره

مِّنَ الْمُشْرِكِیْنَ ؕ ﴿١﴾ فَسِیْحُوْا فِی الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْۤا

له مشرکانو نه | پس وګرځئ تاسو | په زمکه کښې | څلور | میاشتے | او پوهه شئ

معاهدې کړے وے . نو (ورته ووایه چه) تاسو په دے ملک کښې څلور میاشتے نورو وګرځئ او دا یقین

اَنَّكُمْ غَیْرُ مُعْجِزِی اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِی الْكٰفِرِیْنَ ﴿٢﴾

چه تاسو | نه یئ عاجزه کوونکی | د الله | او دا چه | الله | رسوا کوونکے دے | د کافرانو

وساتئ چه تاسو خدائے عاجزه کولے نه شئ او دا چه الله تعالیٰ به کافران (ضرور) رسوا کوی

وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖۤ اِلَى النَّاسِ یَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ

او اعلان دے | د الله او د ده د رسول د طرف | ټولو خلقو ته | په ورځ | د لوئے حج | چه بیشکه الله

او د الله تعالیٰ او د ده د رسول د طرف نه په خلقو کښې د حج اکبر په ورځ اعلان وکړه چه الله تعالیٰ

بَرِیْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِیْنَ ۙ۬ وَرَسُوْلُهٗ ؕ فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَیْرٌ

بیزاره دے | له مشرکانو نه | او د هغه رسول (هم) | پس که چرے تاسو توبه وکړئ | نو دا | به ډیره ښه دی

او د ده رسول د مشرکانو نه بیزاره دے ، نو که تاسو (د کفر او شرک نه) توبه وکړه نو دا تاسو

لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّیْتُمْ فَاعْلَمُوْۤا اَنَّكُمْ غَیْرُ مُعْجِزِی اللّٰهِ ؕ

تاسو ته | او که چرے | مخ وګرځوئ | نو پوهه شئ | چه تاسو | نه یئ عاجزه کوونکی | د الله

له ډیره ښه ده او که چرے وګرځوئ نو یاد ساتئ چه تاسو الله تعالیٰ عاجزه کولے نه شئ

وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿٣﴾ اِلَّا الَّذِیْنَ

او زیرے ورکړه | هغه خلقو ته | چه کافران دی | د عذاب | دردناک | مګر هغه کومو سره چه

او کافرانو ته د یو دردناک عذاب زیرے ورکړه . خو هغه مشرکان چه تاسو

عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِیْنَ ثُمَّ لَمْ یَنْقُصُوْكُمْ شَیْئًا وَّلَمْ یُظَاهِرُوْا

تاسو معاهده کړې ده | له مشرکانو نه | بیا هغوی تاسو سره کے ونه کړو | لږ هم | او نه هغوی مدد وکړو

ورسره معاهده کړے ده بیا هغوی په معاهده کښې تاسو سره کوتاهی نه ده کړے او ستاسو په مقابله کښې

عَلَيْكُمْ اَحَدًا فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ اِلٰى مُدَّتِهِمْ ؕ

ستاسو خلاف | دَ چا | پس پوره کړئ | دَ دوی سره | دَ دوی معاهده | دَ دوی مقرره مودې پورې

ئے چاته امداد نهٔ دے ورکړے ، نو هغوی سره خپله وعده تر نیټې پورې پوره کړئ ،

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝۴ فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ

بیشکه الله | خوښوی | پرهیزګاران | بیا هر کله چه | تیرے شی | میاشتې | دَ احترام

بیشکه پرهیزګاره خلق دَ الله تعالیٰ ډیر خوښ دی ، نو هر کله چه دَ حرمت میاشتې تیرے شی

فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَ خُذُوْهُمْ

نو وژنئ | مشرکان | په کوم ځائے کښې چه | بیا مومئ دوی | او | نیسئ دوی

نو کوم ځائے چه مشرکان بیا مومئ ، دوی وژنئ ، او دوی نیسئ او

وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَاِنْ تَابُوْا

او راګیر کړئ دوی | او کښینئ | دوی ته | په هره موقع کښې | پس که چرې | دوی توبه وکړی

راګیر وئ ئے ، او دَ هرے موقع په ځائے ورته (پټ) کښینئ ، نو که چرې توبه ئے وویستله

وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او قائم کړی | مونځ | او ورکوی | زکوٰة | نو پریږدئ | دَ دوی لاره | بیشکه الله

او (پابندی سره) مونځونه کوی او زکوٰة ورکوی ، نو بیا دَ دوی مخه آزاده کړئ ، بیشکه الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۵ وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ

بخښونکے | مهربان دے | او که چرے یو کس | له مشرکانو نه | پناه وغواړی له تا نه

بخښونکے مهربان دے ۔ او که په مشرکانو کښې یو کس له تا نه پناه وغوښتله نو ته ورته

فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ ؕ ذٰلِكَ

نو پناه ورکړه هغه ته | تر دې چه | هغه واوری | کلام دَ الله | بیا ورسوه هغه | دَ هغه دَ امن ځائے ته | دا

پناه ورکړه ، تر دے چه هغه دَ الله تعالیٰ کلام واوری ، بیا ئے خپل دَ امن ځائے ته ورسوه ، دا حکم

بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ ۝۶ كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ ع

ځکه چه دوی | داسے خلق دی | چه نهٔ پوهیږی | څنګه کیدے شی (معتبره) | دَ مشرکینو

چه دوی داسے خلق دی چه دوی ته (دَ الله دَ حکمونو) علم نشته ۔ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول په نزد دَ

عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ اِلَّا الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ

وعده | په نزد | دَ الله | او په نزد | دَ رسول دَ هغهٔ | سوا دَ هغو خلقو نه | چه تاسو ورسره معاهده کړې ده

مشرکانو وعده څنګه معتبره کیدے شی (هر کله چه دوی دا پخپله ماته کړله) سوا دَ هغو خلقو نه کوم سره چه

عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ فَمَا اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا

په خوا دَ مسجد حرام کښې | پس ترڅو پورې چه دوی (په وعده) قائم وی | تاسو سره | نو تاسو هم قائم وسئ

تاسو دَ مسجد حرام په خوا کښې معاهده کړے ده ، نو ترڅو چه دوی تاسو سره په خپل اقرار باندې قائم وی تاسو هم دَ دی

لَهُمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝٧ كَيْفَ وَإِنْ

دوی د پاره | بیشکه الله | خوښوي | پرهیزګاران | څنګه (معتبر کیدے شي) | حال دا چې که

د پاره په خپل اقرار قائم وسیږئ څکه چه پرهیزګار خلق د الله خوښ وي . (او د دوئ نه سوا) نورو کافرانو سره معاهده

يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ۭ

دوی غلبه بیا مومي | په تاسو باندې | نو لحاظ به نه کوي | ستاسو په حقله | د رشتې | او نه د معاهدے

څنګه باقي پاتے کیدے شي؟ حال دا چه که قابو ئے درباندې بیا مومي نو نه به د خپلولۍ خیال وساتي او نه د معاهدے

يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ وَتَاْبٰى قُلُوْبُهُمْ ۚ وَاَكْثَرُهُمْ

دوی راضي کوي تاسو | په خپلو خولو سره | او انکار کوي | د دوی زړونه | او | اکثر له دوی نه

دوی تاسو تش د خولے په خیرو خوشحالوي او زړونه ئے انکار کوي ، او په دوی کښے اکثر خلق

فٰسِقُوْنَ ۝٨ اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا

نافرمان (دي) | واخستو دوی | په بدل د آیتونو د الله | قیمت | لږ | بیا منع ئے کړل (خلق)

فاسقان دي . دوی د الله تعالی د حکمونو په بدل کښے ډیر لږ قیمت قبول کړے دے ، پس دوی خلق

عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ اِنَّهُمْ سَاۗءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٩ لَا يَرْقُبُوْنَ

د هغه د لارے نه | بیشکه ډیر خراب کار دو | چه دوی | به کولو | دوی لحاظ نه کوي

د هغه د لارے نه منع کوي، بیشکه دوی ډیر خراب کار کولو . د یو مؤمن په حقله

فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝١٠

د مؤمن په باره کښے | د رشتے | او نه | د وعدے | او هم دغه دي | له حد نه تیریدونکي

دوئ نه د خپلوئ څه خیال ساتي او نه د معاهدے ، او دا خلق ډیر سرکشه دي

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ

پس که چرے | دوی توبه وکړي | او قائم کړي | مونځ | او ورکړي | زکوٰة | نو دوی ستاسو وروڼه ګي

نو که دوی توبه وباسي ، او مونځونه کوي ، او زکوٰة ورکوي نو بیا خو ستاسو د دین

فِي الدِّيْنِ ۭ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝١١ وَ

په دین کښے | او مونږ واضحه کوو | آیتونه | هغه خلقو د پاره | چه پوهیږي | او

وروڼه دي او مونږ د پوهه خلقو د پاره خپل حکمونه واضحه پیش کوو . او

اِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ

که چرے دوی مات کړي | خپل قسمونه | پس د خپلے وعدے کولو نه | او عیبونه وباسي | ستاسو په دین کښے

که د وعدے کولو نه پس دوی خپل قسمونه مات کړي او ستاسو په دین کښے عیبونه راوباسي

فَقَاتِلُوْٓا اَىِٕمَّةَ الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ۝١٢

نو جنګ کوئ | د کفر د پیشوایانو سره | بیشکه نه دي (معتبر) د دوئ قسمونه | کیدے شي چه دوئ | را منع شي

نو د کفر سردارانو سره جنګ وکړئ د دوئ قسمونه څه قسمونه نه دي چه دوی (د خپلو شرارتونو نه) منع شي

أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُوٓا أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا

آیا جنګ نهٔ کوئ تاسو | هغه خلقو سره | چه مات ئے کړل | خپل قسمونه | او اراده کړے وه دوی

آیا تاسو به داسے خلقو سره هم نهٔ جنګیږئ کوم چه خپل قسمونه مات کړل او دَ خپل پیغمبر

بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ

دَ ویستلو | دَ رسول | او دوئ | جګړه شروع کړے وه تاسو سره | په رومبی ځل

دَ جلاوطنئ اراده ئے وکړه او هم دوئ تاسو سره (دَ دښمنئ) شروع کړے ده،

أَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾

آیا تاسو ویریږئ له دوئ نه | پس الله | زیات حقدار دے | چه | تاسو ویریږئ هغه نه | که چرے تاسو یئ | مؤمنان

آیا تاسو دَ دوئ نه ویریږئ؟ نو (واورئ) الله تعالیٰ زیات حق لری چه تاسو تر ے نه ویریږئ که تاسو مؤمنان یئ

قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَ

جنګ وکړئ دوئ سره | چه عذاب ورکړی دوئ ته | الله | ستاسو په لاسونو | او رسوا کړی دوی | او

دوی سره جنګیږئ، الله تعالیٰ به ستاسو په لاس دوی ته سزا ورکړی او رسوا به ئے کړی او

يَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٤﴾

فتح درکړی تاسو ته | په دوی باندې | او یخے کړی | سینے | دَ مؤمنانو خلقو

وَدَ دوی په مقابله کښے به ستاسو امداد وکړی او دَ مؤمنانو خلقو سینے به یخے کړی

وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ۗ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ ۗ

او لرے کړی | غصه | دَ دوی دَ زړونو | او توبه قبلوی الله | دَ چا چه غواړی

او دَ دوی دَ زړونو غصه به لرے کړی، او الله تعالیٰ دَ چا چه وغواړی توبه قبوله کړی

وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُوا

او الله | پوهه | دَ حکمت خاوند دے | آیا ګمان کوئ تاسو | چه | تاسو هم دا سے پریښودے شئ

او الله تعالیٰ (په هر څه خبر) پوهه او حکمت خاوند دے آیا ستاسو دا خیال دے چه تاسو به پریښودے شئ

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا

حال دا چه لا نهٔ دی معلوم کړی | الله | هغه کسان | چه جهاد ئے وکړو | له تاسو نه | او نهٔ دے نیولے دوی

حال دا دے چه الله تعالیٰ خو لا دا نهٔ دی معلوم کړی چه په تاسو کښے چا جهاد وکړو او دَ الله تعالیٰ او دَ

مِن دُونِ اللَّهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ

بے له خدائے نه | او نهٔ دَ دهٔ دَ رسول نه | او نهٔ دَ مؤمنانو نه | څوک دَ راز دوست

هغهٔ دَ رسول او دَ مؤمنانو نه بغیر نور دوستان ئے ونهٔ نیول۔

وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ ع ٢ ١٠ ٨

او الله | ښهٔ خبردار دے | دَ هغه څهٔ نه | چه تاسو ئے کوئ | نهٔ دے (حق) | دَ مشرکانو

او الله تعالیٰ ستاسو په ټولو کارونو ښهٔ خبردے. دَ مشرکانو هیڅ دا حق نهٔ رسی

أَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ

چه | آباد کړي | جوماتونه | د الله | چه شهادت ورکوونکي دي | په خپلو ځانونو | د کفر

چه د الله تعالیٰ جماتونه ﺩِ آباد کړي، په داسې حال کښې چه د خپل کفر اقرار (هم) کوي

أُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ ۚۖ وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿١٧﴾

هم دا خلق دي | چه ضائع شول | د دوي عملونه | او په دوزخ کښې به دوي | همیشه ؤسیږي

دا هغه خلق دي د کومو عملونه چه برباد شول او په اور کښې دوي له همیشه اوسیدل دي

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

بیشکه | چه آبادوي | جوماتونه د الله | هغه څوک چه | ایمان ئے راوړو په الله | او په ورځ | د آخرت

د الله تعالیٰ جوماتونه صرف هغه خلق آبادولے شي چه په الله تعالیٰ باندې او په ورځ د آخرت باندې ایمان لري

وَأَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللّٰهَ

او قائم ئے کړو | مونځ | او ورئے کړو زکوٰة | او ونه ویرېدو | مګر | د الله نه

او د مونځ پابندي کوي او زکوٰة ورکوي او بے خدائے نه د بل هیچا نه نه ویریږي

فَعَسٰٓى أُولٰٓئِكَ أَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿١٨﴾ أَجَعَلْتُمْ

پس امید دے | چه هم دغه خلق | به وي | سمه لار موندونکي | آیا ګرځولې ده تاسو

نو امید دے چه دغه خلق به د هدایت موندونکو نه وي. آیا تاسو په

سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ

اوبه څښول | حاجیانو ته | او آبادساتل | د مسجد حرام | په شان د (عمل د) هغه چا

حاجیانو باندې اوبه څښول او د مسجد حرام آباد ساتل د هغه چا د کارونو برابر ګڼړئ

اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

چه ایمان ئے راوړو په الله | او په ورځ | د آخرت | او جهاد ئے وکړو | په لار کښې | د الله

چه په الله تعالیٰ او په آخرت باندې ایمان لري او د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد کوي

لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩﴾

نه دي برابر دوي | په نزد د الله | او الله | لار نه ښائي | ظالمانو خلقو ته

د الله تعالیٰ په نزد خو دوي برابر نه دي، او الله تعالیٰ ظالمانو ته د سمے لارے پوهه نه ورکوي

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

کومو خلقو چه | ایمان راوړو | او هجرت ئے وکړو | او جهاد ئے وکړو | په لار کښې | د الله

هغه خلق چه ایمان ئے راوړو او هجرت ئے وکړو او د الله تعالیٰ په لار کښې ئے به خپلو

بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۙ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ

په خپلو مالونو | او | په خپلو ځانونو سره | ډیر لوئے دي | په درجه کښې | په نزد د الله

مالونو او ځانونو سره جهاد وکړو (د دوي) درجے د الله تعالیٰ په نزد ډیرے لوئے دي

وقف لازم

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٢٠﴾ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ

او هم دا خلق دی | کامیاب | زیرے ورکوی دوی ته | د دوی رب | د خپل رحمت

او هم دغه کسان کامیاب دی . دوی له خدائے د خپل رحمت او د

وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴿٢١﴾

او د رضامندئ | او د باغونو | په کومو کښے چه د دوی د پاره | نعمت دے | همیشه

خپلے رضامندئ او د جنتونو زیرے ورکوی چه په دے کښے د دوی د پاره دائمی نعمتونه موجود دی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٢﴾

همیشه به وی | په هغے کښے | تل د پاره | بیشکه الله سره دے | اجر | ډیر لوئے

دوی به په دے کښے همیشه اوسیږی ، بیشکه الله تعالیٰ سره ډیر لوئے اجر دے .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَاۗءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَاۗءَ

اے د ایمان خاوندانو | مه نیسئ | خپل پلاران | او خپل ورونړه | دوستان

اے مؤمنانو ! تاسو خپل پلاران او خپل ورونړه هم مه ملګری کوئ

اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَي الْاِيْمَانِ ۭ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ

که چرے دوی خوښ کړی | کفر | په ایمان | او څوک چه | دوستان ونیسی دوی لره

که چرے دوی د ایمان په مقابله کښے کفر خوښ کړے وی ، او په تاسو کښے چه څوک دوی

مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَاۗؤُكُمْ

له تاسو نه | نو هم دا خلق دی | ظالمان | ووایه | که چرے وی | پلاران ستاسو

سره ملګرتیا کوی نو هم دغه خلق ظالمان دی . (اے پیغمبره!) ووایه که ستاسو پلاران او ستاسو

وَاَبْنَاۗؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ

او ځامن ستاسو | او ورونړه ستاسو | او ښځے ستاسو | او خپلوان ستاسو | او هغه مالونه

ځامن او ستاسو ورونړه او ستاسو ښځے او ستاسو نور خپلوان او هغه مالونه چه

اقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ

چه تاسو ګټلی دی | او تجارت | چه تاسو ویریږئ | د هغے د نقصان نه | او د اوسیدو کورونه

تاسو ګټلی دی ، او هغه سوداګری چه تاسو سره ئے د بازار قسیدو ویره وی او ستاسو د

تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ

کوم چه خوښوئ تاسو | زیات خوښ | تاسو ته | د الله | او د هغه د رسول | او د جهاد نه

خوښے کورونه ، تاسو ته د الله تعالیٰ او د رسول نه او د هغه په لار کښے د جهاد کولو

فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ۭ

د هغه په لار کښے | نو انتظار وکړئ | تردے چه | راوړی | الله | خپل حکم

نه غوره ښکاری نو انتظار وکړئ تردے چه الله تعالیٰ خپل حکم راولیږی .

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ نَصَرَكُمُ ع٤

او الله | لار نهٔ ښائي | هغو خلقو ته | چه نافرمان دي | بيشکه | مدد کړے دے ستاسو

او الله تعالیٰ فاسقانو خلقو ته لار نهٔ ښائي . الله تعالیٰ په ډيرو موقعو کښے

اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ

الله | په ډيرو موقعو کښے | او په ورځ دَ حُنين | هرکله چه | په تعجب کښے اچولي وُئ تاسو

ستاسو امداد کړے دے . او دَ حنين په ورځ (ئے هم کړے دے) په دغه ورځ تاسو په خپل

كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ

ستاسو ډيروالي | پس هغه په کار رانغلو | ستاسو | څوک هم | او تنګه شوه | په تاسو باندې

ډيروالي مغرور شوئ نو هغې هيڅ فائده درنهٔ کړه ، او زمکه درباندې سره دَ ارت والي

الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ

زمکه | سره دَ فراخئ | بيا تاسو بيرته وګرځيدئ | شا کوونکي | بيا | نازل کړو

تنګه شوه ، نو مخ په شا وُتښتيدئ . بيا الله تعالیٰ

اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ

الله | خپل تسکين | په خپل رسول باندې | او په مومنانو باندې | او رالے ليږلے

په خپل رسول او په نورو مؤمنانو باندې خپله تسلي نازله کړه او داسے لښکرې

جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ وَذٰلِكَ

لښکرے | چه هغه تاسو نهٔ ليدے | او | عذاب ئے ورکړو | هغو ته چه | کافران دي | او هم دا ده

راوليږلو کوم چه تاسو وُنهٔ ليدلو او کافرانو له ئے سزا ورکړه ، او دَ منکرانو

جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

سزا | دَ کافرانو | بيا | توبه قبلوي | الله | پس له دے نه

هم دا سزا ده . بيا له دے نه پس الله تعالیٰ هغه کسانو له دَ توبے توفيق ورکړو

عَلٰى مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

دَ چا چه وغواړي | او الله | ډير بخښونکے | مهربان دے | اے | دَ ايمان خاوندانو!

چه چا لئے چه خوښه وي او الله تعالیٰ ډير بخښونکے مهربان دے . اے مؤمنانو !

اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ

بيشکه | مشرکان (خو) | ناپاکه دي | پس دوي دِ نهٔ رانزدے کيږي | مسجد حرام ته | پس

خبره داده چه مشرکان پليد دي نو دَ دے کال نه پس دِ دوي مسجد حرام

عَامِهِمْ هٰذَا ۚ وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ

له دے کال نه | او که چرے | تاسو ويريږئ | له محتاجئ نه | نو زر به | غنيان کړي تاسو له

ته نهٔ نزدے کيږي ، او که چرے تاسو دَ غريبئ نه ويريږئ نو که چرے الله تعالیٰ وغواړي

اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۸﴾

الله | په خپل فضل سره | اګر چې خوښه غوښتل | بیشکه الله | پوهه | د حکمت خاوند دے

نو هغه به وير ژر تاسو په خپل فضل سره غنیان کړی بیشکه الله تعالیٰ ښه پوهه او د حکمت خاوند دے

قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ

جنګ وکړئ | د هغه خلقو سره | چې ایمان نه راوړی | په الله باندې | او نه | په ورځ

له اهل کتابو نه هغو خلقو سره جنګ کوئ چې په الله تعالیٰ باندې ایمان نه راوړی او نه د آخرت په ورځ

الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ

د آخرت | او حرام نه ګڼړی | کوم چې حرام کړی دی | الله | او د ده رسول | او نه قبلوی

یقین لری او نه هغه څیزونه حرام ګڼړی چې الله تعالیٰ او د ده رسول حرام کړی دی ، او

دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا

حق دین | له هغو خلقو نه | چې ورکړے شوے دی ورته | کتاب | تر دے چې | دوی ورکړی

نه حق دین قبلوی ، تر دے چې هغوی په خپل

الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۲۹﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ ۱۰ ع ۵

جزیه | په خپل لاس | او دوی | ذلیل وی | او وویل | یهودو

لاس جزیه ورکړی او ذلیل وخوار شی . او یهودو وویل

عُزَيْرُ ۨ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ

عُزیر | د الله ځوئے دے | او وویل | نصارا و | مسیح | ځوئے د

چې عُزیر د الله ځوئے دے او نصرانیانو وویل چې مسیح د الله ځوئے

اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ يُضَاهِـُٔوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د الله | دا ده | خبره د دوی | د خُلو د دوی | دوی نقل کوی | خبره | د هغه کافرانو

دے ، دا د دوی د خُلے خبرے دی ، د دوی نه وړاندې چې کافرانو څه وئیلی وو

مِنْ قَبْلُ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۰﴾ اِتَّخَذُوْٓا

(چې) وړاند تیر شوی دی | هلاک کړی دوی لره | الله | کوم خوا | بے لارے روان دی | نیولی دی دوی

د هغې نقل کوی الله تعالیٰ دِ دوی هلاک کړی کومے خوا ته بے لارے روان دی . دوی الله تعالیٰ

اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ

خپل عالمان | او خپل راهبان | خدایان | بے له خدائے نه | او مسیح | ځوئے د مریم

پریښے دے او خپل عالمان او درویشان ئے رب جوړ کړے دے او مسیح ابن مریم علیه السلام ئے هم.

وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ

او حکم نه وو شوے دوی ته | مګر | د دے چې عبادت وکړی | د یو خدائے | نشته دے معبود

او دوی ته صرف دومره قدرے حکم وو چې دوی دِ صرف د یو الله عبادت وکړی ، د دهٔ نه بغیر بل معبود

إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشْرِكُونَ ٣١ يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔوا۟

بې له دهٔ نه | دے پاک دے | له هغه څهٔ نه | چه دوی ئې شريک مقرروی | دوی غواړی | چه | مړ کړی

نشته ، هغه د دے خلقو د پېښ اګړی شرک نه پاک دے . دوی دا غواړی چه دَ الله تعالیٰ رڼړا دَ

نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ

دَ الله نور | په خپلو خُلو سره | او نهٔ منلوی | الله | مګر دا چه | پوره کړی | خپل نور

خُلے په پُوکو مړه کړی ، او الله تعالیٰ غواړی چه هغه خپله رڼړا پوره خوره کړی

وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ٣٢ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ

اګرچه | خوښ نهٔ کړی | کافران خلق | هم دے دے کوم چه | راولیږلو | خپل رسول | په هدایت

اګرکهٔ دَ کافرانو پرے خوښي نهٔ راځی . الله تعالیٰ هغه ذات دے چه خپل رسول ئے دَ هدایت او

وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ

او په رښتینی دین سره | چه غالب کړی هغه | په دینونو ټولو باندې | اګرکهٔ | بدے ګڼړی

حق دین سره راولیږلو دَ پاره دَ دے چه دا په نورو دینونو غالب کړی اګرچه دَ مشرکانو دا خبره

ٱلْمُشْرِكُونَ ٣٣ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ

مشرکان | اے دَ ایمان خاوندانو | بیشکه | ډیر | له عالمانو نه

نا خوښه وے نهٔ وی . اے مؤمنانو ! ډیر احبار (ملایان) او

وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ

او پیرانو (نه) | خوری | مالونه | دَ خلقو | په ناجائزه | او منع کوی (خلق)

پیران (زاهدان) دَ خلقو مالونه په ناحقه خوری ، او خلق دَ الله تعالیٰ

عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ

دَ الله دَ لارے نه | او هغه خلق چه | ذخیره کوی | سرهٔ زر | او سپین زر

دَ لارے نه منع کوی . او څوک چه سرهٔ او سپین زر جمع کوی

وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٣٤

او نهٔ خرڅ کوی هغه | دَ الله په لاره کښې | پس زیرے ورکړه دوی ته | دَ عذاب | دردناک

او دَ الله تعالیٰ په لاره کښے ئے نهٔ خرڅ کوی نو (اے نبی !) دوی ته دَ دردناک عذاب خبر ورکړه .

يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِى نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا

په کومه ورځ | چه ګرم به کړے شی دغه مال | په اور کښې | دَ دوزخ | بیا به داغ ورکړے شی | په هغے سره

په کومه ورځ چه به دا (خزانے) دَ دوزخ په اور کښے ښے ګرمے کړے شی ، او دَ دوی تندی

جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ

دَ دوی تندونه | او دَ دوی ډډونه | او دَ دوی شاګانونه | چه دا دی هغه څهٔ | چه تاسو جمع کول

اړخونه او شاګانے به پرے داغلے شی (او ورته به ویلے شی چه) دا هغه خزانے دی چه تاسو

لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ

ځپلو ځانونو دپاره | پس وڅکئ | هغه څه چه تاسو | په جمع کولو | بیشکه | شمیر | د میاشتو

ځان له جمع کړے وے پس څه چه تاسو جمع کول د هغے مزه وڅکئ. بیشکه چه د میاشتو شمیر د الله تعالیٰ

عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ

د الله په نزد | دولس | میاشتے دی | د الله په کتاب کښے | په کومه ورځ چه | هغه پیدا کړل

په کتاب کښے د الله تعالیٰ په نزد دولس میاشتے دی ، د هغے ورځے نه چه آسمانونه

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذٰلِكَ الدِّيْنُ

آسمانونه | او زمکه | له دے نه | څلور (میاشتے) | عزتمنے دی | هم دا دے | دین

او زمکه ئے پیدا کړل. په دے کښے څلور خاص د ادب میاشتے دی ، هم دغه سم دین

الْقَيِّمُ فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا

درست | پس ظلم مه کوئ تاسو | په دے کښے | په ځپلو ځانونو | او جنگ کوئ

دے. پس په دے (څلورو) میاشتو کښے په ځپل ځان باندے ظلم مه کوئ او مشرکانو

الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُوْٓا

د مشرکانو سره | ټول په یو ځائے | لکه څنګه چه | دوی جنگ کوی تاسو سره | ټول په یو ځائے | او پوهه شئ

سره په یو ځائے جنګیږئ لکه چه هغوی در سره په جمع جنګیږی او یاد ساتئ چه

اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٦﴾ اِنَّمَا النَّسِيْٓءُ زِيَادَةٌ

چه | الله | سره | د پرهیزګارانو دے. | بیشکه | (میاشت) وروستو کول | زیاتے دے

الله تعالیٰ د پرهیزګارو مل دے. بیشکه (د کفارو) میاشتے مخکښے وروستو کول په (ځپل) کفر

فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا

په کفر کښے | ګمراه کیږی | په دے سره | کافران | دوی حلال کړی دا | یو کال

کښے نور زیاتے کول دی ، کفار د دے په وجه په ګمراهئ کښے غورزیږی چه یو کال یوه میاشت حلاله

وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوْا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ

او حرام کړی دا | (بل) کال | د پاره د دے چه پوره کړی | شمیر (د میاشتو) | چه حرامے کړی دی | الله

کړی او بل کال ئے حرامه کړی چه د الله تعالیٰ د حراموکړو میاشتو شمیره پوره کړی نو په

فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ اللّٰهُ زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ وَاللّٰهُ

پس حلالوی دوی | هغه څه چه حرام کړی دی الله | ښائسته کړے شوی دی دوی ته | خراب | عملونه د دوی | او الله

دے کښے د الله تعالیٰ حرامه کړے (میاشت) حلاله کړی ، دوی ته ځپل بد عملونه ښائسته ښکاره شوی دی

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ ع ٥/٨

لار نه ښائی | قوم | د کافرانو ته | اے د ایمان خاوندانو! | په تاسو څه شوی دی

او الله تعالیٰ کافرانو ته د هدایت لار نه ښائی. اے مؤمنانو! دا په تاسو څه شوی دی

إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ ۚ

هر كله چه درته ويلے شي تاسو ته | ووځئ | د الله په لاره كښے | نو درانه شئ تاسو | د زمكے طرف ته

چه كوم وخت درته ويلے شي چه د الله تعالىٰ په لاره كښے ووځئ نو تاسو زر په زمكے پورے ونښلئ

أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ

آيا راضي شوئ تاسو | په ژوند د دُنيا | د آخرت په مقابله كښے | پس نه دے | سامان

آيا تاسو د آخرت په مقابله كښے د دنيا ژوند خوښ كړے دے ، نو د دنيا مال متاع

الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ

د ژوند د دُنيا | د آخرت په مقابله كښے | مگر لږ | كه چرے تاسو ونه ځئ | نو هغه به عذاب دركړي تاسو ته

خو په آخرت كښے ډير لږ دے ، كه تاسو (جنگ له) ونه ځئ نو الله تعالىٰ

عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ

عذاب | دردناك | او په بدل كښے به راولي | يو قوم | بل له تاسو نه | او تاسو به ونه رسوے شئ | نقصان هغه ته

به مو په دردناك عذاب اخته كړي ، او ستاسو په ځائے به يو بل قوم راولي او تاسو به هغه ته هيڅ نقصان

شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ

د هيڅ څيز | او الله | په هر څيز باندې | قادر دے | كه چرے تاسو مدد ونه كړئ د هغه | نو مدد كړے دے د هغه

ونه رسوے شئ او الله تعالىٰ په هر څيز باندې قدرت لري . كه تاسو د پيغمبر مدد ونه كړئ نو الله تعالىٰ د هغه مدد

اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا

الله | كله چه | راوويستلو هغه | كافرانو | چه هغه وو دويم | په دوؤ كښے | كله چه هغه دواړه وو

هغه وخت هم كړے وو كله چه كافرانو (د كلي نه) بهر ويستلے وو (په داسے حالت كښے چه) دوه (ملگرو) كښے ، هر كله چه

فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا ۖ

په غار كښے | كله چه ده وئيل | خپل ملگري ته | غم مه كوه | بيشكه | الله | مونږ سره دے

هغه دواړه غار كښے وو او هغه خپل ملگري ته وئيل چه غم مه كوه يقيناً الله تعالىٰ مونږ سره دے

فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ

پس راوولیږلو | الله | تسكين خپل (طرفه) | په خپل پيغمبر | او | قوت ئے وركړو ده ته | په لښكرو

نو الله تعالىٰ د خپل طرف نه په خپل پيغمبر باندې اطمينان نازل كړو او په داسے لښكرو ئے د هغه امداد وكړو

لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ ۗ

چه نه ليدل تاسو هغه | او كړه هغه | خبره | د كافرانو | ښكته

كوم چه تاسو نه وو ليدلي، او د كافرانو خبره ئے ښكته كړه ، او

وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾ انْفِرُوا خِفَافًا

او خبره د الله | هم داده اوچته | او الله | ډير زبردست | د حكمت خاوند دے | ووځئ | سپك باري

د الله تعالىٰ خبره خو هسے هم (هميشه) اوچته وي او الله تعالىٰ غالب او د حكمت خاوند دے تاسو (غزا له) ووځئ د لږ سامان

وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او دروند باری | او جهاد کوئ | په خپلو مالونو | او په خپلو ځانونو سره | د الله په لاره کښې

یا د ډیر سامان سره او په خپل سر و مال سره د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد کوئ

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ لَوْ كَانَ عَرَضًا

هم دا | ډیر ښه دی | تاسو د پاره | که تاسو پوهیږئ ؟ | که چرے وے | (دنیوی) مال

دا درله بهتره ده که تاسو پرے پوهیږئ ؟ (اے پیغمبره!) که چرے په آسانئ سره

قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ وَلٰكِنْ بَعُدَتْ

زر حاصلیدونکے | او سفر (هم) | آسان | نو پیروی به کړے وه دوی ستا | او لیکن | لرے ښکاره شوه

حاصلیدونکے غنیمت وے یا آسان سفر وے (اے پیغمبره!) دا خلق به یقیناً د پسے درغلی وو، خو دوی ته دا

عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۭ وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا

دوی ته | لاره | او | زر به دوی قسمونه خوری | په الله | که چرے زمونږ طاقت وے | نو ضرور به وتلی وو مونږ

سفر ډیر اوږد ښکاره شو، او اوس به په الله تعالیٰ قسمونه خوری چه که زمونږ دس رسیدے نو درسره

مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ

تاسو سره | دوی هلاکوی | خپل ځانونه | او الله | پوهیږی | چه بیشکه دوی

به وتلی وو، دوی خپل ځانونه په هلاکت کښې غورزوی او الله تعالیٰ ته ښه معلومه ده چه دوی

لَكٰذِبُوْنَ ﴿٤٢﴾ عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ ع ٦/٥/١٢

دروغژن دی | معافی د وکړی | الله | تا ته | ولے | اجازت درکړو تا | دوی ته

دروغژن دی۔ (اے نبی!) الله تعالیٰ د تا ته عفوه وکړی، تا دوی ته ولے اجازت درکړو (نه

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ

تر دے چه | ښکاره شوے وے | تا ته | هغه خلق چه | رښتینی وو | او تا پیژندلی وے

په د ورکولو) تر دے چه درته ښه ښکاره شوے وے چه څوک پکښے رښتینی دی او دروغژن د

الْكٰذِبِيْنَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

دروغ ویونکی | نه | غواړی اجازت له تا نه | هغه خلق چه | ایمان لری | په الله

پکښے هم پیژندلی وے، کوم خلق چه الله تعالیٰ او د آخرت په ورځ ایمان لری هغوی له تا نه د خپل

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۭ

او په ورځ | د آخرت | له دے نه چه دوی جهاد وکړی | په خپلو مالونو | او په خپلو ځانونو سره

مال او ځان او د جهاد کولو په باره کښے رخصت نه غواړی (چه دوی د جهاد د خدمت نه معاف وساتلے

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٤﴾ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ

او | الله | ښه پیژنی | پرهیزګاران | بیشکه | اجازت غواړی له تا نه | هغه خلق چه

شی) او الله تعالیٰ پرهیزګاران ښه پیژنی۔ دا رخصت خو هغه خلق غواړی چه په الله تعالیٰ

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ

چه ایمان نهٔ راوړي | په الله | او په ورځ | دَ آخرت | او په شک کښې دي | زړونه دَدوی | پس دوی
او په آخرت باندې ایمان نهٔ لري ، او په زړو کښې ئې شک پروت دے ، نو دوی

فِیْ رَیْبِهِمْ یَتَرَدَّدُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ

په خپل شک کښې | سرګردانه کیږي | او که چرے | دوی اراده کولے | دَ وتلو | نو ضرور به ئې تیار کړے وُ دَ دې لپاره
په خپل شک کښې سرګردانه دي . که چرے دوی (دَ جنګ میدان ته) دَ وتلو اراده لرلے نو ورله به ئې څهٔ

عُدَّةً وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِیْلَ اقْعُدُوْا

(څهٔ) سامان | او لیکن | ناخوښه کړل الله | راپورته کیدل دَدوی | پس درانهٔ ئې کړل دوی | او ووئیلے شول | چه کښینئ
تیارے هم کړے وے . لیکن الله تعالیٰ دَدوی پاڅیدل خوښ نهٔ کړل نو توفیق ئې ورنهٔ کړو او ورته ووئیلے شو

مَعَ الْقٰعِدِیْنَ ﴿٤٦﴾ لَوْ خَرَجُوْا فِیْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا

سره | دَ کښیناستونکو | که چرے راوتلے وُ دوی | په تاسو کښې | نو نهٔ به ئې زیات کړے وُ تاسو لپاره | مګر
چه دَ نورو ناستو سره تاسو هم کښینئ . که دوی تاسو سره دَ جنګ میدان ته وتلی هم وے نو په تاسو کښې به

خَبَالًا وَّلَا۠اَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ یَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِیْكُمْ سَمّٰعُوْنَ

فساد | او دوی به زغلیدل | ستاسو په مینځ کښې | په لټولو تاسو کښې | دَ فساد | او په تاسو کښې | جاسوسان دي
ئې نورو زیاته خرابي پیدا کړے وه او ستاسو په مینځ کښې به ئې دَ فتنے پیدا کولو کوشش کولو او اوس هم ستاسو په

لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِالظّٰلِمِیْنَ ﴿٤٧﴾ لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ

دَدوی | او الله | پوهه دے | په ظالمانو | بیشکه | لټولے وُو دوی | فساد | له دے نه وړاندې
ټولی کښې دَدوی جاسوسان شامل دي او الله دَ ظالمانو ښهٔ پیژني . دوی دَ دې نه وړاندې هم دَ فتنے پیدا کولو کوشش کړو

وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ حَتّٰی جَآءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ

او اړولے کړي وُو | تاسو دَ پاره | کارونه | تر دے چه | راورسیده | رښتینے وعده | او غالب شو | حکم | دَ الله
او ستاسو په کارونو کښې ئې ردو بدل کولو ، تر دے چه حق راورسیدو او دَ الله تعالیٰ حکم غالب شو حال دا

وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّیْ وَلَا تَفْتِنِّیْ ؕ

او دوی | خوښتل نه | او ځینې له دوی نه | هغه دے | چه وائي | چه رخصت راکړه | ماته او ما فتنه کښې مهٔ غورزوه
دے چه دوی نهٔ خوښولو . او په دوی کښې څوک داوائي چه ماته اجازت راکړه او په شر کښې م مهٔ

اَلَا فِی الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِیْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِیْنَ ﴿٤٩﴾

واوریٔ | په فتنه کښې | پریوتل دوی | او بیشکه | دوزخ | راګیر ونکے دے | کافرانو لره
غورزوه واوریٔ چه په آزمینت کښې خو دوی هسے هم پریوتلی دي او بیشکه دوزخ په کافرانو راچاپیر شوے دے

اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۚ وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِیْبَةٌ

که چرے ورسیږي تاته | (څهٔ) ښیګړه | نو بد لګي په دوی | او که چرے | ورسیږي تاته | مصیبت
(اے پیغمبره !) که تاته څهٔ ښیګړه دررسي نو دوی پرے خفه کیږي ، او که تاته څهٔ تکلیف دررسي

يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَآ اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَ يَتَوَلَّوْا

نو وائي دوی | مونږ خوسنبال کړے وو | خپل کار | له وړاندې نه | او | واپس لاړ شي

نو دوی وائي چه مونږ خو د وړاندې نه د ځان په حقله احتياط کړے وو اوزدا ووائي او) دوی

وَّهُمْ فَرِحُوْنَ ﴿٥٠﴾ قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ

او دوی | خوشحاله وی | دوایه | هيڅ کله به ونه رسيږي مونږ ته | مګر هغه څه چه ليکلی دی | الله

په خوشحالئ خوشحالئ مخ واړوی او روان شي (اے پيغمبره!) ووايه چه څه الله تعالیٰ مونږ د پاره مقرر کړی

لَنَا ۚ هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾ قُلْ

مونږ د پاره | هغه کارساز زمونږ | او په الله باند | توکل پکار دے | مؤمنانو له | وُوايه

دی مونږ ته به هم هغه ملاويږي هغه زمونږ کارساز دے او مومنان هم په الله تعالیٰ توکل ساتي (اے پيغمبره!) دے

هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ۚ وَنَحْنُ

آیا | تاسو انتظار کوئ | زمونږ په حق کښے | صرف | يو له دوو ښيګړو نه ؟ | او مونږ (خو)

(منافقانو) ته ووايه چه تاسو زمونږ په حق کښے په دوو ښيګړو کښے د يوې ښيګړے (د فتح يا د شهادت) انتظار کوئ او مونږ

نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ

انتظار کوُو | ستاسو په حق کښے | داچه ورسوی تاسو ته | الله | عذاب | له خپل طرف نه

ستاسو په حق کښے د دے خبرے انتظار کوو چه الله تعالیٰ به تاسو د خپل طرف نه څه عذاب راولیږی یا زمونږ

اَوْ بِاَيْدِيْنَا ۖ فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿٥٢﴾ قُلْ اَنْفِقُوْا

یا زمونږ په لاسونو | پس انتظار کوئ تاسو | بيشکه مونږ هم تاسو سره | انتظار کوونکي يو ۔ | دوايه | خرچ کړئ

په لاسونو عذاب درسوی، پس تاسو هم انتظار کوئ مونږ هم تاسو سره انتظار کوو۔ ورته ووايه که تاسو

طَوْعًا اَوْ كَرْهًا لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ۚ اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٥٣﴾

(مال) په خوښئ | یا په ناخوښئ | هيڅ کله به قبول نه کړے شي | له تاسو | بيشکه يئ تاسو | نافرمانه خلق

خپل مالونه په رضا خرچ کوئ او که په نارضا خوستاسو خيرات هيڅ قبليدے نه شي ځکه چه تاسو فاسقان خلق يئ۔

وَمَا مَنَعَهُمْ اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ

او نه دے ګرځولي منع کړی دوئ | له دے نه چه | قبول کړے شي | له دوی نه | صدقے د دوی | مګر | داچه دوی

د دوئ د خيرات د نه قبليدو وجه نور څه نه ده خو دا چه دوئ د الله تعالیٰ

كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا

منکر شول | د الله | او د ده د رسول | او دوی نه راځي | مونځ له | مګر

او د رسول نه انکار کړے دے۔ او مونځ ته نه راځي خو په ماتو

وَهُمْ كُسَالٰى وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿٥٤﴾ فَلَا تُعْجِبْكَ

سستی کوونکي | او دوی نه خرچ کوی | مګر | په ناخوښئ | پس په تعجب کښے دِ وانه چوی تا

زړونو ، او د الله تعالیٰ په لار کښے خرچ نه کوی خو په ناخوالئ ، نو د دوی مالونه

أَمْوَالُهُمْ وَلَآ أَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ

مالونه دَ دوی | او نهٔ | اولاد دَ دوی | بیشکه | چه غواړی | الله

او دَ دوی اولاد دِ تا په تعجب کښے نهٔ اچوی ، الله تعالیٰ ته دا منظوره ده چه

لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ

چه دوی ته عذاب ورکړی | په هغے سره | په ژوند کښے | دَ دنیا | او وُځی | دَ دوی ساګانے

دَ دے څیزونو په انجام ئے په دنیا کښے په عذاب اخته کړی ، او هر کله چه دَ دوی ساه وُوځی

وَهُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٥٥﴾ وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ

او دوی | کافران وی | او دوی قسمونه خوری | په الله | چه دوی خو | له تاسو نه دی

نو هم به دوی کافران وی ، او دوی په الله تعالیٰ قسمونه خوری چه مونږ ستاسو ملګری یُو

وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُونَ

او نهٔ دی دوی | له تاسو نه | بلکه دوی (خو) | داسے خلق دی | چه ویریږی | که چرے دوی بیاموی

او دوی هیڅ چرے ستاسو ملګری نهٔ دی ، بلکه دوی خو (په ظاهر او باطن کښے) فرق لرونکی دی که دوی د

مَلْجَـًٔا أَوْ مَغَٰرَٰتٍ أَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا إِلَيْهِ

ځائے دَ پناه | یا غارونه | یا ځائے دَ ننوتو | نو خامخا به دوی واپس شی | هغے ته

پناه ځائے ، یا غار یا دَ سر پټولو غونډ ځائے بیاموندو ، نو په منډه هلته

وَهُمْ يَجْمَحُونَ ﴿٥٧﴾ وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَٰتِ

زغلیدونکی | او ځنے له دوی نه | هغه څوک دی | چه الزام لګوی په تا | په صدقو کښے

ځان پټ کړی . او ځنے پکښے داسے خلق دی چه په زکوٰة ویشلو کښے په تا اعتراض کوی

فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَآ

پس که چرے | دوی له ورکړے شی | له هغے نه | نو خوشحاله شی | او که چرے | ورنهٔ کړے شی دوی ته | له هغے نه

نو که دوی له ترے نه ورکړے شی نو خوشحاله شی او که چرے دوی ته پکښے څهٔ حصه ورنهٔ شی

إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَآ ءَاتَىٰهُمُ اللَّهُ

نو هغه وخت دوی | ناراضه شی | او څهٔ به ښهٔ وُو | که چرے دوی | راضی کیدے | په هغه څهٔ چه ورکړل دوی ته الله

نو فوراً ناراضه شی . او که دوی په هغه برخه راضی شوے وے چه خدائے او رسول ورته

وَرَسُولُهُۥ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ

او دَ دهٔ رسول | او دوی ویلے | بس دے مونږ دَ پاره | الله | او ژر به راکړی مونږ ته | الله | دَ خپل فضل نه

ورکړے ده او دا ئے ویلے وے چه خدائے زمونږ بس دے هغه به مونږ ته په خپل فضل سره او دَ

ع ٧ / ١٣

وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى اللَّهِ رَٰغِبُونَ ﴿٥٩﴾ ۞ إِنَّمَا الصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ

او رسول دَ دهٔ | بیشکه مونږ | دَ الله طرف ته | اُمید لرونکی یُو | بیشکه | چه صدقے | دَ پاره دَ فقیرانو

هغهٔ رسول به هم څهٔ راکړی بیشکه مونږ الله تعالیٰ طرف ته راغب یُو . په حقیقت کښے دَ زکوٰة مال صرف دَ فقیرانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ

او د مسکینانو دی | او د کارکنانو دی | چه په دے (صدقو) باندې (مقرر) دی | او (هغه چا کپاره) د کوموزړونو کښې چه الفت پېدا...

مسکینانو او دا د دا تحولوونکو کارکنانو حق دے او د هغو خلقو حق دے د کوموزړونو لجوئي چه منظور

وَفِي الرِّقَابِ وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ

او په (آزادولو) د څټونو کښې | او د قرض دارو د پاره | او د الله په لاره کښې | او مسافرو (د پاره)

وی او د غلامانو په آزادولو، د قرض دارو په مدد کولو، د الله تعالیٰ په لاره کښې په ورکولو او د مسافرو په مدد

فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٠﴾ وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ

فرض دی | د الله د طرف نه | او الله | پوهه | خاوند د حکمت دے | او ځنې له دوی نه | هغه دی (چه)

کولو کښې خرچ کیدے شی، دا د الله تعالیٰ د طرف نه حکم دے او الله تعالیٰ ښه پوهه د حکمت خاوند دے۔ او ځنې خلق له دوی نه

يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ اُذُنٌ ۗ قُلْ اُذُنُ

تکلیف ورکوی | نبی ته | او وائی | چه دے (خو) | غوږ دے | ووایه | غوږ

داسے دی چه نبی ته تکلیف ورکوی او وائی چه دا سړے د هر چا هره خبره آوری، ووایه چه دا خو ستاسو د

خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ

ښه دے تاسو د پاره | یقین لری | په الله | او یقین لری | د مؤمنانو (په خبره) | او رحمت دے

فائدے د پاره داسے دے، دے په الله تعالیٰ یقین ساتی او د مسلمانانو په خبره باور کوی او په تاسو کښے

لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۗ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ

د هغو د پاره چه | ایمان راوړی | له تاسو نه | او | کوم خلق چه | تکلیف ورکوی | د الله رسول ته

چه څوک ایمان لری د هغوی د پاره رحمت دے، او څوک چه د الله تعالیٰ رسول له تکلیف ورکوی

لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ

هغوی له | عذاب (دے) | دردناک | دوی قسمونه خوری | په الله | تاسو د پاره | چه راضی کړی تاسو

هغوی د پاره دردناک عذاب دے۔ دا خلق ستاسو په وړاندی قسمونه خوری چه تاسو خوشحاله کړی

وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾

او الله | او د ده رسول | زیات حقدار دی | چه رضامند ئے کړی دوی | که چرے وی دوی | مؤمنان

حالانکه الله تعالیٰ او د ده رسول د دے خبرے زیات حق لری چه دوی ئے رضا کړی که دوی په رښتیا مؤمنان وی

اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ لَهٗ

ایا دوی ته معلوم نه ده | چه هغه | کوم چه مخالفت وکړی | د الله | او د ده د رسول | نو بیشکه ده د پاره د

ایا دوی ته معلوم نه ده چه څوک د الله تعالیٰ او د ده د رسول مخالفت کوی نو هغهٔ د پاره

نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيْهَا ۗ ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيْمُ ﴿٦٣﴾

اور | د دوزخ | همیشه به وی | په هغے کښے | هم داده | رسوائی | ډیره لویه

د دوزخ اور مقرر دے چه همیشه به پکښے پراته وی او دا ډیره د رسوائی خبره ده۔

يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ

ویریږی | منافقان | له دے نه چه نازل شی | په دوی باندی | (څه) سورت | چه خبر به ورکړی دوی ته

منافقان دے نه ویریږی چه چرته (په مسلمانانو) داسے سورت رانازل نه شی چه دَ دوی (منافقانو) دَ

بِمَا فِیْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلِ اسْتَهْزِءُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ

هغه څه چه | دَ دوی په زړونو کښے دی | ووایه | مسخرے کوئ تاسو | بیشکه الله | ښکاره کوونکے دے

زړونو حال ورته ښکاره کړی (اے پیغمبره!) ووایه چه (ښه ده) خندا کوئ، بیشکه الله تعالیٰ هغه څیز

مَّا تَحْذَرُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا

دَ هغه څیز کومے نه چه تاسو ویریږئ | او که چرے | ته له دوی نه تپوس وکړے | نو دوی به ضرور وائی | بیشکه چه مونږه

ښکاره ونکے دے دکوم نه چه تاسو ویره کوئ۔ او که تپوس ترے ته وکړے (چه څه خبرے مو کولے؟) نو جواب به وکړی

نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ؕ قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰیٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ

ټوقے | او لوبے کولے | ووایه | آیا په الله | او دَ دهٔ په آیتونو | او دَ دهٔ په پیغمبر پورے

چه مونږ خو هسے ټوقے ټکالے کولے، ورته ووایه چه آیا ستاسو ټوقے په الله دَ هغهٔ په آیتونو او په

كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ

تاسو ټوقے کوئ | بهانے مهٔ جوړوئ | تاسو خو کافر شوئ | پس له ایمان راوړلو نه

پیغمبر پورے کیږی؟ اوس عذرونه مهٔ کوئ تاسو دَ ایمان راوړلو نه پس بیا کفر کړے دے

اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةًۢ

که چرے مونږ معافی وکړو | یو ے ډلے ته | له تاسو نه | نو مونږ به عذاب ورکړو | بلے ډلے ته

که مونږ ستاسو یو ټولے معاف هم کړو ، نو بل ټولی له به خامخا سزا ورکړو

بِاَنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿٦٦﴾ ع اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ

ځکه چه دوی | وو | ګناهګار | منافقان سړی | او منافقانے ښځے

ځکه چه دوی مجرمان دی۔ منافقان سړی او منافقانے ښځے

بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ

دَ یو بل (ملګری) دی | حکم کوی | دَ بد کار | او منع کوی

ټول دَ یو بل پشان دی ، دَ بدو خبرو تعلیم ورکوی ، او دَ نیکئ نه

عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ

دَ نیک کار نه | او بندن ساتی | لاسونه خپل (دَ خیرات نه) | هیر کړے دوی | الله

خلق منع کوی او دَ نیکئ په لاره کښے دَ خرڅ کولو نه) خپل لاسونه منع ساتی، دوی الله تعالیٰ هیر کړو

فَنَسِيَهُمْ ؕ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللّٰهُ

پس هغهٔ هیر کړل دوی | بیشکه | منافقان | نافرمانه دی | وعده کړے ده | الله

نو الله تعالیٰ هم دوی هیر کړل (یاد نه ساتی چه) منافقان یقیناً نافرمانه دی۔ الله تعالیٰ دَ منافقانو سړو او دَ منافقو

٨ع١٤

وقف لازم

الْمُنٰفِقِیْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِیْنَ

منافقانو سړو سره | او د منافقانو ښځو سره | او د کافرانو سره | د اور د دوزخ | چه همیشه به وی دوی

ښځو سره او کافرانو سره د دوزخ د اور وعده کړې ده چه همیشه به په کښې

فِیْهَا ؕ هِیَ حَسْبُهُمْ ۚ وَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ

په دے کښې | هم دا (عذاب) | بس دے دوی له | او | لعنت کړے دے په دوی | الله | او دوی د پاره

پراته وی او دغه (عذاب) د دوی د پاره کافی دے او په دوی باندې د الله تعالیٰ لعنت دے او د دوی د

عَذَابٌ مُّقِیْمٌ ﴿۶۸﴾ كَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْۤا اَشَدَّ

عذاب دے | همیشه | (ستاسو مثال) پشان د هغو خلقو دے | چه له تاسو وړاندې وو | هغوی وو ډیر زیات

پاره د همیشه عذاب مقرر دے. (ستاسو کارونه) د هغه چا په شان (دی) چه تاسو وړاندې تیر شوی دی چه تاسو

مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ؕ فَاسْتَمْتَعُوْا

له تاسو نه | په قوت کښې | او زیات وو | په مال کښې | او په اولاد کښې | پس هغوی فائده واخسته

زیات زورور او تاسو نه زیات د مال او د اولاد خاوندان وو ، پس هغوی د خپلې دنیوی

بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِیْنَ

له خپلې برخې نه | پس تاسو هم فائده واخسته | له خپلې حصے نه | لکه چه | فائده اخستے وه | هغو خلقو کوم چه

برخې نه فائده اوچته کړه او تاسو د خپلې دنیوی برخې نه هم فائده اوچته کړه ، لکه څنګه چه هغه خلقو چه له تاسو نه

مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِیْ خَاضُوْا ؕ

له تاسو نه وړاندې وو | له خپلې برخې نه | او تاسو هم مشغول شوئ (په بې ځایه خبرو کښې) | لکه چه هغوی | مشغول وو

وړاندې وو د خپلې برخې نه فائده اوچته کړه ، او په هغه ناکاره، بحثونو کښې پریوتلئ لکه هغوی چه

اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

هم دا خلق دی (چه) | ضائع شول | عملونه د دوی | په دنیا کښې | او په آخرت (کښې) | او هم دا خلق دی

پکښې پوخت شوی وو ، د دا سے خلقو عملونه په دنیا او آخرت دواړو کښې ضائع لاړل او هم دغه خلق

الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۹﴾ اَلَمْ یَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

نقصان موندونکی | آیا نه دے | رسیدلے دوی ته | خبر | د هغو خلقو چه | له دوی نه وړاندې وو

پخپله تاوانیان شول آیا دوی ته د پخوانو خلقو حالات نه دی رارسیدلی

قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۙ وَقَوْمِ اِبْرٰهِیْمَ

د قوم د نوح | او د عاد | او د ثمود | او قوم د ابراهیم

د قوم د نوح، او د عاد، او د ثمود ، او د قوم د ابراهیم، او

وَاَصْحٰبِ مَدْیَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

او د مدین والو | او د اپوته شوو کلو | چه راغلل دوی ته | پیغمبران د دوی

د مدین د اوسیدونکو او د هغه کلو چه اړولے شوی وو ، هغوی ته خپلو پیغمبرانو ښکاره دلیلونه

بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

په ښکاره دلیلونو سره | پس نه دی الله (داسې) | چه ظلم ئې کړی وو په دوی باندې | لیکن دوی پخپله | په ځانونو

راوړل ، نو الله تعالیٰ په هغوی هیڅکله زیاتی نه کولو خو هغوی پخپله په ځان ظلم

يَظْلِمُوْنَ ۝ ۷۰ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ وقف لازم

ظلم کولو | او مؤمنان سړی | او مؤمنانې ښځې | ځینې له دوی نه ملګری د ځینو دی

ځانونو ظلم کولو ۔ او مؤمنان سړی او مؤمنانې ښځې د یو بل ملګری دی ،

يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ

چه حکم کوی | د نیک کار | او منع کوی | د بدو کارونو نه | او قائموی

د نیکو کارونو تعلیم ورکوی ، او د بدو کارونو نه خلق منع کوی ، او د مونځونو

الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ

مونځ | او ادا کوی | زکوٰة | او حکم منی | د الله

پابندی ساتی ، او زکوٰة ورکوی ، او د الله تعالیٰ او د هغه د رسول

وَرَسُوْلَهٗ ۭ اُولٰۗىِٕكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

او د هغه د رسول | هم دا خلق دی | چه رحم به وکړی په دوی باندې | الله | بیشکه | الله | ډیر زبردست

حکم منی ، په دې خلقو به الله تعالیٰ ډیر زر رحم وکړی (یاد ساتئ چه) الله تعالیٰ یقیناً غالب

حَكِيْمٌ ۝ ۷۱ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

د حکمت خاوند دے | وعده کړې ده | الله | مؤمنانو سړو | او مؤمنانو ښځو سره

او د حکمت خاوند دے الله تعالیٰ د مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو سره د داسې باغونو د

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

د جنتونو | چه بهیږی به | لاندې د هغې نه | نهرونه | (چه) دوی به همیشه وی | په هغې کښې

ورکولو اراده کړې ده چه د هغې لاندې به نهرونه بهیږی کوم ځائې چه به دوی همیشه

وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ۭ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ

او د پاکیزه مکانونو | دائمی باغونو کښې | او رضامندی | د الله

اوسیږی او د داسې پاک صفا مکانونو چه د همیشه په باغونو کښې به وی او د ټولو نه غټه خبره دا چه د الله

اَكْبَرُ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ ۷۲ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ ع ۵ ۹

ډیره لویه ده | هم دا ده | کامیابی | ډیره لویه | اے | نبی ! | جهاد وکړه

رضامندی به ورته حاصله شی ، هم دا د ټولو نه لویه کامیابی ده ۔ اے نبی ! کافرانو او منافقانو

الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۭ وَمَاْوٰىهُمْ

د کفارو | او منافقینو سره | او سختی کوه | په دوی | او ځائې د دوی

سره جهاد کوه ، او په دوی باندې سختی کوه او (یاد ساته چه) د دوی ځائې

جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا

دوزخ دے | او هغه ډیر بد | ځائے دے د واپس تلو | دوی قسمونه خوری | په الله | چه نه دی ویلی دوی

دوزخ دے او هغه ډیر خراب ځائے دے. دوی په الله تعالیٰ قسمونه خوری چه مونږ فلانئ خبره نه

وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ

او بیشکه ویلے ده دوی | خبره | د کفر | او دوی کافران شول | پس | د خپل اسلام راوړو نه

ده کړے، حال دا دے چه دوی د کفر خبره ضرور کړے ده او د اسلام نه پس ئے کفر غوره کړو

وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا ۚ وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ

او دوی اراده وکړه | د هغه څه | چه دوی بیا نه مونده | او دوی بدل وانه خستلو | مگر د دے خبرے چه

او هغه کار ته ئے لاس واچولو چه ترسره ئے نه کړے شو او دوی صرف د دے خبرے بدله واخستله

أَغْنَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ مِنْ فَضْلِهِ ۚ فَإِنْ يَتُوبُوا

غنیان کړل دوی | الله | او | د ده رسول | په خپل فضل سره | پس که چرے دوی توبه وکړی

چه الله تعالیٰ او د ده رسول په خپله مهربانئ سره دوی غنیان کړی دو، نو که چرے دوی توبه وباسی

يَكُ خَيْرًا لَهُمْ ۖ وَإِنْ يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ

نو وی به | ډیره ښه | د دوی دپاره | او که چرے | دوی ونه منی | نو عذاب به ورکړی دوی له | الله

نو دا به ورله بهتره وی، او که چرے دوی ونه منی، نو الله تعالیٰ به دوی له په

عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ

عذاب | دردناک | په دنیا کښے | او په آخرت (کښے) | او نه به وی د دوی دپاره

دنیا او آخرت کښے دردناک عذاب ورکړی، او په مخ د زمکے

فِي الْأَرْضِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾ وَمِنْهُمْ مَنْ

په مخ د زمکے | هیڅوک دوست | او نه هیڅوک مددگار | او ځنے له دوی نه | هغه څوک دی

به د دوی دپاره نه څوک دوست وی او نه مددگار. او په دوی کښے ځنے هغه دی کوم چه

عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ

چه وعده ئے کړے ده الله سره | که چرے هغه راکړی مونږ ته | له خپل فضل نه | نو مونږ به ضرور صدقه ورکړو | او مونږ به ضرور یو

د الله تعالیٰ سره وعده کړے وه چه که الله تعالیٰ مونږ له په خپل فضل سره (مال) راکړو نو مونږ به ئے ضرور خیرات کړو

مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ بَخِلُوا

له نیکانو نه | بیا هر کله چه | ورکړو دوی ته هغه | له خپل فضل نه | نو دوی شومتیا وکړه

او ښه نیکان به شو. بیا هر کله چه الله تعالیٰ په خپل فضل سره دوی له (هرڅه) ورکړل نو په دے کښے

بِهِ وَتَوَلَّوْا وَهُمْ مُعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾ فَأَعْقَبَهُمْ

په هغے کښے | او دوی واوړیدل (د وعدے نه) | او دوی | مخ اړونکی دی | پس د دوی انجام کینولو (الله)

ئے شومتیا شروع کړه او (د وعدے نه) واوړیدل او انکار ئے وکړو. نتیجه ئے دا شوه چه الله تعالیٰ

نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ بِمَآ اَخْلَفُوا

نفاق | دَ دوی په زړو ونو کښې | تر هغې ورځې پورې | چه دوی به ملاویږي دَ هغهٔ سره | ځکه چه | دوئ مخالفت وکړو

دَ دوئ په زړونو کښې داسې نفاق واچولو چه دَ ملاقات (قیامت) تر ورځې پورې به قائم وی ځکه چه

اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿٧٧﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا

دَ الله سره | دَ هغې وعدې چه دَ دهٔ سره ئې کړے وه | او په سبب دَ دې چه دوی به دروغ ویل | آیا دوی نهٔ پوهیږی؟

دوی الله تعالیٰ سره بے لوظی وکړه او دروغ وینا کانے ئے وکړے . آیا دوی نهٔ پوهیږی

اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ

چه الله | پوهیږی | دَ دوی په رازونو | او دَ دوی په پټو خبرو | او دا چه | الله | ښهٔ پوهیږی

چه الله تعالیٰ دَ دوی په پټو رازونو او دَ دوی په پټو خبرو ښهٔ خبر دے او دا چه الله تعالیٰ دَ غیبو په

الْغُيُوْبِ ﴿٧٨﴾ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

په غیبو | کوم (منافقان) چه | الزام لګوی | په خوشحالئ سره خیرات کوونکو | مؤمنانو باندې

خبرو باندې ښهٔ عالم دے . دا هغه خلق دی چه په خپله مرضئ خیرات کوونکو مؤمنانو ته دَ خیرات

فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ

په صدقو کښې | او کوم (مؤمنان) چه | څهٔ نهٔ بیاموی | سوا دَ خپل محنت نه

په حقله ملامتیا کوی ، او هغه خلق چه نهٔ بیاموی مګر دَ خپل محنت (صله) دا

فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ؕ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ؗ وَلَهُمْ عَذَابٌ

نو دوی ټوقې کوی | هغوئ پورې | ټوقې وکړے الله | دَ دوی سره | او دَ دوی دَ پاره | عذاب دے

منافقان دوی پورې ټوقې کوی ، الله تعالیٰ دَ دوی دَ مذاق (بدله) ورکړه او دَ دوئ دَ پاره

اَلِيْمٌ ﴿٧٩﴾ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ اِنْ تَسْتَغْفِرْ

دردناک | ته بخښنه غواړے | دوئ دَ پاره | یا بخښنه نهٔ غواړے | دوئ دَ پاره | که ته بخښنه غواړے

دردناک عذاب مقرر دے . که ته دَ دوی دَ پاره بخښنه غواړے او که نهٔ غواړے که ته ورله (پوځل نه)

لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ ذٰلِكَ

دوی دَ پاره | او یا (٧٠) | ځله (هم) | نو هیڅکله به ونهٔ بخښی | الله | دوی | دا

اویا ځله بخښنه وغواړے خو الله تعالیٰ به دوی هیچرے ونهٔ بخښی ، دا ځکه چه

بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

په دې وجه چه دوی | انکار وکړو | دَ الله | او دَ دهٔ دَ رسول | او الله | لاره نهٔ ښائی

دوئ دَ الله تعالیٰ او دَ دهٔ دَ رسول نه انکار کړے دے ، او الله تعالیٰ بدعمله قوم ته

الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٨٠﴾ فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ ع ١٠ ٨ ١٦

نا فرمانو خلقو ته | خوشحاله شول | وروستو پاتے شوی (له جهاده) | په خپله ناسته

سمه لاره نهٔ ښوئی . دا وروستو پاتے کیدونکی خلق دَ پیغمبر نه په وروستو

خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ

په خلاف د پیغمبر د خدای | او خوښه نه کړله دوی | چه جهاد وکړی دوی | په مالونو خپلو | او په ځانونو خپلو

پاتې کېدو پاندې خوشحاله شول ، او دائې خوښه نه کړه چه په خپل مال او سر باندې د الله تعالی په لاره کښې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ۭ قُلْ

په لاره کښې | د الله | او دوی دوئیل (نورو ته) | مه وځئ (جهاد له) | په ګرمئ کښې | ووایه

جهاد وکړی. او خلقو ته ئې (هم) ووئیل چه په دا سخته ګرمئ کښې (جهاد د پاره) سفر مه کوئ. ته ورته

نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ۭ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ۝٨١ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا

اور د دوزخ | ډیر سخت دے | په ګرموالی کښې | کاش چه دوی پوهیدے | پس و دې خاندی دوی | لږ

ووایه چه د دوزخ اور خو د دے نه زیات ګرم دے کاش چه دوی په دے خبره پوهیدے. نو لږ دے ورځے دې وخاندی

وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ جَزَاۗءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝٨٢ فَاِنْ

او و دې ژاړی | ډیر | دا سزا | د هغه څه ده | چه دوی به کول | پس که چرے

او بیا ډیره موده دې ژاړی ، د دوئی د کارونو هم دغه سزا ده . نو که چرے

رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى طَاۗىِٕفَةٍ مِّنْهُمْ فَاسْتَاْذَنُوْكَ

واپس راوستے ته | الله | د یو ډلے طرف ته | له دوی نه | پس اجازت وغواړی دوی له تا نه

ته الله تعالی د دوی (منافقینو) یو ټولی طرف ته واپس راوستے او (په بله موقعه) تا نه میدان جنګ طرف

لِلْخُرُوْجِ فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا وَّلَنْ تُقَاتِلُوْا

د وتلو (جنګ د پاره) | نو ووایه | چه هیڅ کله تاسو وتلے نه شئ | ما سره | چرے هم | او هیڅ کله تاسو جنګیدلے نه شئ

ته د وتلو اجازت وغواړی نو ورته جواب ورکړه چه تاسو ما سره هیچرے وتلے نه شئ او زما په ملګرتیا کښے هیڅ کله د

مَعِيَ عَدُوًّا ۭ اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا

زما په ملګرتیا کښے | دښمن سره | بیشکه تاسو | راضی شوئ | په کښیناستلو | په اول | ځل | پس کښینئ تاسو

د دښمن مقابله نه شئ کولے . بیشکه تاسو په اول ځل (په کورونو کښې) ناسته خوښه کړے وه نو اوس هم تاسو

مَعَ الْخٰلِفِيْنَ ۝٨٣ وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا

د وروستو پاتے خلقو سره | او مه کوه مونځ (د جنازے) | په هیڅ کس باندې | له دوی نه | چه مړ شی | چرے هم

وروستو پاتے خلقو سره کښینئ . او (اے نبی!) آئنده چه په دوی کښے څوک مړ شی نو د هغه جنازه کوه

وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ ۭ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

او مه و دریږه ته | په قبر د هغه | بیشکه دوی انکار وکړو | د الله | او د ده د رسول

او مه ئې په قبر و دریږه ، ځکه چه دوی د الله تعالی او د ده د رسول نه انکار کړے دے

وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝٨٤ وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ ۭ

او دوی مړه شول | او دوی نافرمانه وو | او په تعجب کښې د وانه چوی | مالونه د دوی | او اولاد د دوی

او په دا سے حالت کښے مړه شوی دی چه دوی نافرمانه وو . د دوی مالونه او د دوی اولاد تا په تعجب کښے وانه چوی

إِنَّمَا يُرِيدُ اللّٰهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ

بیشکه | غواړي الله | چه | عذاب ورکړي دوی ته | دوی په دې | په دنیا کښې | او ووځي

الله تعالیٰ خو صرف دا غواړي چه دوی ته په هغه څیزونو سره په دنیا کښې عذاب ورکړي او د دوی ساه

أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ أَنْ اٰمِنُوْا

روحونه د دوی | او دوی کافر وي | او هر کله چه نازل کړې شي | یو سورت | چه ایمان راوړئ

ووځي نو په داسې حالت کښې چه دوی کافران وي. او کله چه یو سورت په دې مضمون را نازل شي چه تاسو

بِاللّٰهِ وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ اسْتَأْذَنَكَ أُولُوا الطَّوْلِ

په الله | او جهاد وکړئ | په ملګرتیا کښې | د ده د رسول | نو اجازت غواړي له تا نه | مالداره خلق

په الله ایمان راوړئ او د رسول په ملګرتیا کښې جهاد وکړئ، نو له دوی نه مالداره خلق در نه

مِنْهُمْ وَقَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ رَضُوْا

له دوی نه | او وائي | پریږده مونږ | چه شو مونږ | د کښېناستونکو سره | دوی راضي شول

اجازت غواړي او وائي چه مونږ پریږده چه د ناستو خلقو سره (ناست) پاتې شو. دوی خپله

بِأَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ

په دې چه دي دوی | سره | د وروستو پاتې کېدونکو ښځو | او مهر ووهلے شو | په زړونو د دوی | پس دوی

په دې راضي دي چه کورناستو ښځو سره ملګري پاتې شي او د دوی په زړونو مهر لګولے شوے پس دوی

لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۷﴾ لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

نه پوهیږي | لیکن | رسول ﷺ | او هغه کسان چه | ایمان ئې راوړو | د ده سره

نه پوهیږي. لیکن رسول او هغه خلقو چه د ده سره ئې ایمان راوړو په خپلو

جٰهَدُوْا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۚ وَأُولٰٓئِكَ لَهُمُ

دوی جهاد وکړو | په خپلو مالونو سره | او په خپلو ځانونو سره | او هم دا کسان دي | چه دوی د پاره

مالونو او په خپلو ځانونو سره ئې جهاد وکړو، هم دا خلق دي چه د دوی د

الْخَيْرٰتُ ۫ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۸۸﴾ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ

ښیګړې دي | او هم دا خلق دي | خلاصې موندونکي | تیار کړي دي | الله | دوی د پاره

پاره ښیګړې دي او هم دا کسان کامیاب دي. الله تعالیٰ د دوی د پاره داسې باغونه

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

باغونه | چه بهیږي به | د هغې لاندې | نهرونه | همیشه به وي دوی | په هغې کښې

تیار کړي دي چه د هغې لاندې به نهرونه بهیږي. هم په دې کښې به دوی همیشه وي

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۸۹﴾ وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْأَعْرَابِ

دا ده | کامیابي | ډېره لویه | او راغلل | عذر کوونکي | له کلي والو نه

او دا یوه لویه کامیابي ده. او له کلي والو نه ځنې بهانې کر راغلل،

ع ۱۱ ۹ ۱۷

لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِينَ كَذَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ

چه رخصت ورکړې شي | دوی ته | او کښیناستل | هغه کسان کوم چه | دروغ وویل | الله | او د ده رسول ته

چه (د پاتې کیدو) اجازت ورته ورکړې شي او هغه کسان بالکل کښیناستل چا چه د الله او د رسول سره په دروغ وعدې

سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٠﴾ لَيْسَ

زر به ورسیږي | هغوی ته چه | کافران دي | له دوی نه | عذاب | دردناک | نشته دے

کړې وه ، به دوی کښې څوک چه په کفر کښې پاتې شي هغوی له دردناک عذاب مقرر دے . په

عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ

په کمزورو باندې | او نه په رنځورانو باندې | او نه په هغه خلقو باندې کوم چه | نه بیا مومي

ضعیفانو او په ناروغو او په هغه چا چه (د جهاد) خرچه نه بیا مومي

مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ مَا

هغه څیز چه | خرچ کړي | هیڅ گناه | هر کله چه دوی خیرخواهي کوي | د الله | او د ده د رسول | نشته دے

هیڅ گناه نشته کله دوی د الله تعالی او د ده د رسول سره مخلص وي ، په

عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٩١﴾ وَ

په نیکی کوونکو باندې | (څه) الزام | او الله | بخښونکے | مهربان دے | او

داسې نیکانو هیڅ الزام نشته . او الله تعالی بخښونکے مهربان دے . او

لَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا

نه په هغه خلقو چه | هر کله چه دوی راشي تا ته | د پاره د دې چه ته سورلی ورکړې دوی ته | نو تا وویل | چه زه نه بیا مومم هغه څه

په هغه چا هم څه گناه نشته چه تا له راشي چه (جهاد له) ورله سورلی ورکړې او ته ورته ووایې چه ما سره سورلی

أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ

چه زه سوارۀ کړم تاسو | په هغې باندې | نو دوی واپس شول | او د دوی سترګې | بهیدې | له اوښکو نه

نشته چه تاسو پرې سوارۀ کړم هغوی واپس شي او د سترګو نه ئې د غم اوښکې

حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ ﴿٩٢﴾ إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ

له ډیر غم نه | چه دوی نه بیا مومي | هغه څه چه | دوی خرچ کړي | بیشکه | الزام | (خو) په هغو کسانو دے

څاڅي ځکه چه د هغوی سره د خرچ د پاره مال نه وي . (او الزام) صرف په هغو خلقو دے چه له تا

يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ ۚ رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا

چه اجازت غواړي له تا نه | او دوی | مالداره دي | دوی راضي شول | په دې چه | دوی پاتې شي

نه (د دروستو پاتې کیدو) اجازت غواړي سره د دې چه هغوی مالداره وي ، دوی د دروستو پاتې کیدونکو ښځو سره

مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾

د دروستو پاتې کیدونکو ښځو سره | او مهر لګولے دے | الله | د دوی په زړونو باندې | پس دوی | نه پوهیږي

پاتې کیدل خوښ کړل او الله تعالی د دوی په زړونو باندې مهر لګولے دے پس دوی (د جهاد په برکتونو) نه پوهیږي

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ډاکټر محمد دين

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ؕ قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا

عذر به وكړي دوى | تاسو ته | هركله چه واپس راشئ تاسو | دوى ته | ووايه | عذر مه كوئ

دوى به تاسو ته (رنګ رنګ) عذرونه پيش كوي هركله چه تاسو واپس ورشئ ورته ووايه چه بهانې مه كوئ

لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ ؕ وَسَيَرَى اللّٰهُ

موږ هيڅكله يقين نه كوو | په تاسو | موږ ته ښودلي دي الله | ستاسو خبرونه (حالات) | او ګوري به | الله

موږ ستاسو په خبره يقين نه كوو، الله تعالىٰ موږ ته ستاسو حالات ښودلي دي، او بيا به هم الله تعالىٰ او

عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ

ستاسو عمل ته | او د ده رسول | بيا | به واپس كړے شئ | د هغه طرف ته چه پوهيږي په پټو | او په ښكاره

رسول ستاسو كارونه ويني ، بيا به الله تعالىٰ ته واپس لاړ شئ چه پټ او ښكاره هر څه ورته معلوم دي

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۴﴾ سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ

پس هغه به وښائي تاسو ته | هغه څه | چه تاسو به كول | ډير زر به دوى قسمونه خوري | په الله | ستاسو په وړاندې

نو هغه به ورته وښائي چه كوم كوم كارونه تاسو كول ، چه تاسو واپس شئ نو دوى به درته په الله تعالىٰ قسمونه

اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ اِنَّهُمْ

هركله چه را واپس شئ تاسو | د دوى طرف ته | چه تاسو مخ واړوئ | له دوى نه | پس تاسو مخ واړوئ | له دوى نه | بيشكه دوى

خوري ، د پاره د دے چه تاسو ترے نه واوړئ ، نو تاسو ترے نه مخ واړوئ (ځكه چه) دوى

رِجْسٌ ؗ وَّمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۵﴾

ناپاك (دي) | او د دوى ځائے | دوزخ دے | بدله (ده) | د هغه كارونو | چه دوى به كول.

پليت دي او د دوى ټيكاڼه دوزخ دے او دا د دوى د عملونو بدله ده.

يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَاِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ

دوى به قسمونه خوري | تاسو ته | چه تاسو راضي شئ | له دوى نه | پس كه چيرے تاسو راضي شوئ | له دوى نه | پس بيشكه الله

دوى تاسو ته ځكه قسمونه خوري چه تاسو ترے نه راضي شئ، نو الله تعالىٰ د داسے شرارتي خلقو نه

لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۹۶﴾ اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا

به نه راضي كيږي | د هغه خلقو نه | چه نافرمانه دي | دا كلي وال | ډير سخت دي | په كفر | او نفاق كښے

هيڅ رنګه نه راضي كيږي . دا كلي وال (منافقان) په كفر او نفاق كښے ډير سخت دي

وَّاَجْدَرُ اَلَّا يَعْلَمُوْا حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ

او د ډيرو زيات لائق دي | چه نه دي پوهيږي دوى | په احكامو | چه نازل كړل | الله | په خپل رسول | او الله

او د نادانۍ په وجه د دے لائق دي چه الله تعالىٰ په خپل رسول باندے څه نازل كړي دي د هغے حدودو نه واقف نه وي

عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۹۷﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ

پوهه | د حكمت خاوند دے | او ځينې كلي وال | هغه دي | چه خيال كوي | هغه څه چه دوى خرچ كوي

الله تعالىٰ په هر څه پوهه او حكمت خاوند دے او په كلي والو كښے ځينے كسان داسے دي چه د الله تعالىٰ په لاره كښے

مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ۚ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۗ

تاوان | او انتظار کوي | په حق ستاسو کښې | (د زمانې) د ګردشونو | هم په دوی دې | ګردش | بد

خرڅ کول تاوان ګڼړي او په تاسو باندې د انقلاباتو انتظار کوي خو خراو خت هم پخپله په دوی راتلونکې دے

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٩٨﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ

او الله | اوریدونکے | پوهه دے | او ځنې کلي والـ | هغه دي چه ایمان لري | په الله

او الله تعالیٰ هرڅه اوري په هرڅه پوهه دے ۔ او ځنې کلي وال داسے هم دي چه په الله تعالیٰ او په

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ

او په ورځ | د اخرت | او ګڼړي | هغه څه چه | دوی خرڅ کوي | نزدیکت | په نزد د الله

ورځ د اخرت ایمان لري ، او څه چه خرڅ کوي هغه د الله تعالیٰ په دربار کښې د نزدیکت او د پیغمبر

وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ۗ اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ۗ سَيُدْخِلُهُمُ

او د رسول د دعاګانو (اخستلو ذریعه) | واورئ | بیشکه دا | نزدیکت دے | دوی د پاره | زر به داخل کړي دوی

د دعا اخستلو ذریعه ګڼړي ، هو ! بیشکه دا خرڅ کول د دوی د نزدیکت ذریعه ده ، الله تعالیٰ به ئے ډیر زر

اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۗ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٩﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ

الله | په خپل رحمت کښې | بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | او وړاندې دے کونکي | ځغلونه ډیر مخې

د خپل رحمت د سیوري لاندې راولي ، بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے ۔ او هغه مهاجر او انصار چه د

مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ

له مهاجرینو | او له انصارو نه | او هغه خلق چه | پیروي ئے کړے ده د دوی | په نیکۍ کښې | راضي شو

ټولو نه ډیر وړمبے ئے ایمان ته سبقت کړے دے او څوک چه په اخلاص ورپسے روان شوي دي ، د هغو

اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

الله | له دوی نه | او دوی راضي شول | د هغه نه | او تیار کړي دي | دوی له | باغونه | چه بهیږي په

ټولو نه الله تعالیٰ راضي شوے دے او هغوی د الله تعالیٰ نه راضي شوي دي او دا سے باغونه ئے ورله تیار کړي دي چه د هغے

تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۗ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾

د هغے لاندې | نهرونه | همیشه به وي | په هغے کښې | همیشه | هم دا ده | کامیابي | لویه

لاندې نهرونه بهیږي ، تل ترتله به پکښے د سیږي ، دا ډیره لویه کامیابي ده ۔

وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ

او ځنې له هغو نه | چه تاسو ګیر چاپیره دي | له کلي والو نه | منافقان دي | او ځنې له مدینې والو نه (هم)

او (اے مسلمانانو !) تاسو نه ګیر چاپیره په کلي والو کښې ډیر خلق منافقان دي او ځنې په مدینې والو کښې دي

مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۛ لَا تَعْلَمُهُمْ ۗ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۗ

چه ټینګ دي | په نفاق باندې | نه پیژنې ته دوی | هم مونږ | دوی پیژنو

چه په نفاق ټینګ ولاړ دي ۔ ته خو دوی نه پیژنې (خو) مونږ دوی ښه پیژنو

سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ﴿١٠١﴾ وَاٰخَرُوْنَ

زر به عذاب ورکړو دوئ ته | دوه ځله | بیا به راوګرځولے شي دوی | د لوئ عذاب طرف ته | او نور خلق دي

او ډیر زر به مونږ دوی ته دوه سزا ګانے ورکړو او بیا به په آخرت کښے لوئے عذاب ته وسپارلے شي. او ځنے نور

اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا

چه هغوی اقرار وکړو | د خپلو ګناهونو | ګډ کړو چه ګډ ئې کړل عملونه | (ځنې) نیک | او ځنې بد

کسان داسے دي چه خپله ګناهونه منلی دي، عملونه ئے ګډ وډ دي ځنې نیک او ځنې بد.

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠٢﴾ خُذْ

نزدے ده چه الله | توبه قبوله کړی | د دوی | بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | واخله

اُمید دے چه الله تعالیٰ به د دوی توبه قبوله کړی بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے. (العیاذ)

مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا

د دوی د مالونو نه | صدقه | چه ته پاک کړے دوی | او صفا کړے دوی | په دے (صدقه)

د دوی د مالونو نه صدقه وصول کړه چه د دے په ذریعه ئے پاک او صفا کړے، او

وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ

او دعا کوه | دوی ته | بیشکه ستا دعا | تسکین دے | د دوی د پاره | او الله | آوریدونکے

د دوی په حق کښے دعا کوه، ستا دعا د دوی د تسلئ سبب دے، او الله تعالیٰ هرڅه آوري

عَلِيْمٌ ﴿١٠٣﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ

پوهه دے | آیا نه پوهیږی دوی | چه بیشکه هم الله | قبلوی | توبه | د خپلو بندګانو

په هرڅه پوهه دے. آیا دوی ته معلومه نه ده چه هم الله تعالیٰ د خپلو بندګانو توبه قبلوی

وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٠٤﴾ وَقُلِ

او اخلی | صدقے | او چه هم الله | توبه قبلوونکے | مهربان دے | او ووایه

او هم هغه صدقے قبلوی او دا چه هم الله تعالیٰ توبه قبلوی او مهربان دے او ورته ووایه

اعْمَلُوْا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۭ

عمل کوئ تاسو | بیا به ګوری | الله | ستاسو عمل | او رسول د هغه | او مؤمنان هم

چه تاسو (نیک) عملونه کوئ، الله تعالیٰ او رسول او مومنان ستاسو طرز عمل ته ګوری.

وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ

او زر به تاسو واپس کړے شئ | طرف د پوهیدونکی | د پټو | او ښکاره وُ ته | پس هغه به تاسو ته ښائی

او هغه ذات ته به واپس کیږئ چه پټ او ښکاره هرڅه ورته معلوم دي، نو هغه به مو خبر کړی

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٠٥﴾ وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ

هغه څه چه تاسو به کول. | او ځنې (خلق نور هم) دي | چه پاتے کړے شوی دی | د الله حکم پورے | یا به عذاب ورکړی دوی

چه تاسو څه څه کارونه کول. او ځنې نور خلق دي چه د هغوی معامله د الله تعالیٰ حکم ته پاتے ده یا به سزا ورکړی

وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٠٦﴾ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

او يا به معاف كړي | دوی | او الله | پوهه | د حكمت خاوند دے | او هغه خلق | كوم چه جوړ كړ

او يا به ئے توبه قبوله كړي او الله تعالىٰ په هر څه پوهه د حكمت خاوند دے. او هغه نور خلق دي چه يو جومات

مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا ۢ بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

يو جومات | د ضرر وركولو | او د كفر كولو | او اختلاف پيدا كولو د پاره | د مؤمنانو په مينځ كښے

ئے د ضرر رسولو په غرض او د كفر د پاره او د مسلمانو ترمينځه د جدائي راوستو په نيت جوړ كړے دے

وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ۗ وَلَيَحْلِفُنَّ

او د مورچل جوړولو | هغه چا د پاره | چه جنګ ئے كړے دے د الله | او د هغه د رسول سره | د دينه له دمخه | او دوى به ضرور قسمونه خوري

او د هغه چا د استوګنے په خاطر چه د پخوا راسے د الله او د رسول مخالفت كوي ، او دوى به درته قسمونه

اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّا الْحُسْنٰى ۗ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٠٧﴾

چه نه دے اراده كړے مونږ | (څه نور) سيوا د ښيګړے نه | او الله | ګواهي وركوي | چه يقيناً دوى | دروغژن دي ۔

خوري چه زمونږ غرض د ښيګړے نه بغير نور هيڅ نشته او الله تعالىٰ ګواه دے چه دوى دروغ وائي ۔

لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ۗ لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى

ته مه ودريږه | په هغے كښے | هيڅ كله | خامخا هغه جومات | چه بنياد ئے ايښودے شوے دے | په پرهيزګارئ باندے

ته په دغه جومات كښے هيچرے (مونځ ته) مه ودريږه ، البته د كوم جومات بنياد چه د ړومبي ورځے نه په تقوىٰ

مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ۗ فِيْهِ رِجَالٌ

د ړومبي ورځے نه | هغه زيات حق لري | چه ودريږے ته | په هغے كښے | په هغے كښے داسے خلق دي

ايښودے شوے دے ، هغه د دے قابل دے چه ته په كښے (مونځ ته) ودريږے ، په هغے كښے داسے خلق دي

يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴿١٠٨﴾ اَفَمَنْ اَسَّسَ

چه خوښوي | چه دوى پاك شي | او الله | دوست لري | پاك او سپين ونكي | پس آيا هغه كس چه بنياد ئے كيښود

چه پاكه استوګنه خوښوي ، او پاك او سپين ونكي خلق د الله تعالىٰ خوښ وي ، آيا چا چه د خپل عمارت

بُنْيَانَهٗ عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ اَسَّسَ

د خپلے آبادئ | په ويره | د الله نه | او په رضامندئ (د هغه) | وړينه دے | يا | هغه كس چه | بنياد ئے كيښود

بنياد د الله تعالىٰ نه په ويره او د هغه د رضامندئ په خاطر ايښے دے هغه بهتر دے او كه هغه څوك چه د

بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ۗ

د خپلے آبادئ | په غاړه | د يو ړے كنډے | غورزيدونكے | پس ورغورزيږي | په هغه سره | په اور كښے | د دوزخ

خپل عمارت بنياد ئے د يو ړوند غورزيدونكي كمر په سر ايښے دے او هغه عمارت د هغه كس خپل ځان سره د دوزخ

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ

او الله | لاره نه ښائي | قوم | د ظالمانو ته | هميشه به وي | آبادئ د دوى | كومے چه

په اور كښے ورغورزولو او الله تعالىٰ ظالمانو ته هدايت نه كوي . كوم عمارت چه دوى جوړ كړے دے دا به تل

بَنَوْا رِيْبَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاللّٰهُ

او الله | زړه ئې د دوی | ټکړې ټکړې شي | مګر دا چه | د دوی په زړونو کښې | شک غورزوونکی | دا چه جوړه کړه ئې

او د دوی په زړونو کښې د شک زړې وي ، تر هغه چه د دوی زړونه (د جومات په غورزولو) ټوټه ټوټه شي . او

عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١١٠﴾ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ ع ٣٤ ١١ ٢

او د دوی مالونه | د دوی ځانونه | د مؤمنانو نه | اخستلی دی | بیشکه الله | د حکمت خاوند دی | پوهه

الله تعالیٰ ښه پوهه دانا دی . بیشکه الله تعالیٰ د مؤمنانو ځانونه او د دوی مال دولت په دې بدله کښې په بیعه اخستي

بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ قف

او دوی وژلې شي | پس دوی وژني | د الله په لاره کښې | دوی جنګ کوي | جنت (دی) | څکه چه دوی له

دي چه دوی ته به جنت ملاویږي ، دوی د الله په لاره کښې جنګ کوي ، پس دوی (دښمنان) وژني او وژلې کیږي

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ ؕ وَمَنْ اَوْفٰى

او څوک دی زیات پوره کوونکې | او قرآن کښې | او انجیل | په تورات | رښتینې | د هغه په ذمه | وعده ده

د الله تعالیٰ دا وعده د تورات ، انجیل او د قران په رو سره رښتینې ده ، او د الله تعالیٰ نه زیات

بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَ

او | کوم چه تاسو کړه د الله سره | په خپله هغه سودا | پس خوشحاله اوسئ | د الله نه | خپله وعده

د خپل قول پوره کوونکې نور څوک کیدې شي ، پس تاسو ته په خپله دې سودا چه تاسو الله تعالیٰ سره کړې ده خوشخبري ګ

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١١١﴾ اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ

روژه نیوونکي | حمد وثنا کوونکي | عبادت کوونکي | دوی توبه کوونکي | لویه | کامیابي | هم دا ده

او دا ډیره لویه کامیابي ده - داخلق توبه ویستونکي ، عبادت کوونکي ، حمد وثنا کوونکي روژه نیوونکي

الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

د بد کار نه | او منع کوونکي | د نیک کار | حکم کوونکي | سجده کوونکي | رکوع کوونکي

رکوع کوونکي ، سجده کوونکي ، خلقو ته د نیکئ حکم کوونکي ، او د بدو کارونو نه منع کوونکي

وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ

پیغمبر له | روا نه دی | مسلمانانو ته | او زیرے ورکړه | د الله د حدودو | او حفاظت کوونکي

او د الله تعالیٰ د (قائم شوو) حدودو حفاظت کوونکي دي او (دا سې) مؤمنانو ته زیرے ورکړه . پیغمبر او مؤمنانو

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا

دوی وي | او اګر چه | مشرکانو د پاره | چه دوی بخښنه وغواړي | چه ایمانونه راوړي دي | او هغو خلقو له

سره دا نه ښائي چه د مشرکانو په حقله بخښنه غواړي اګر که نږدې خپلوان

اُولِيْ قُرْبٰى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١١٣﴾

خپلوان | پس له دې نه چه | ښکاره شوه | دوی ته | چه دوی | دوزخیان دي

دي ، د دې نه پس چه دا ورته ښکاره شوه چه دوزخیان دي .

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ
او نهٔ وه | بخښنه غوښتل | دَ ابراهيم | دَخپل پلار دَ پاره | مگر | په سبب دَ هغه وعدے | چه کړے ئے وه
او دَ ابراهيم علیه السلام دَ خپل پلار دَ پاره دُعا غوښتل صرف دَ يو ے وعدے په وجه وو چه ابراهيم علیه السلام ده سره
اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ اِنَّ
دَ ده سره | پس هر کله چه ښکاره شوه | ده ته | چه دے دښمن دے | دَ الله | نو بيزار شو له ده نه | بيشکه
کړے وه ، بيا هر کله چه ده ته معلومه شوه چه هغه دَ الله تعالیٰ دُښمن دے نو ترے نه ويزاره شو ، واقعی
اِبْرٰهِيْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿١١٤﴾ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا ۢ بَعْدَ
ابراهيم | ډير نرم دله | برد باره وو | او نهٔ دے | الله (دا چې) | چه بے لارے کړي | يو قوم | پس له دے نه
ابراهيم علیه السلام ډير نرم مزاجه او برد باره وو . او الله تعالیٰ يو قوم نهٔ بے لارے کوي پس له دے نه چه دوي ته
اِذْ هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
چه لارښوونه يې ورته وکړه | تر دے چه | واضح کړي | په دوي | هغه څه چه دوي له هغې نه ځان ساتي | بيشکه الله
هدايت شوے وي تر دے چه دوي ته هغه څيزونه صفا صفا وښائي دَ کومو نه چه دوي له بچ کيدل پکار دي بيشکه الله
بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١١٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
په هر څيز باندې | پوهيدونکے | بيشکه الله دَ پاره ده | بادشاهي | دَ آسمانونو | او دَ زمکے
په هر څهٔ باندې پوهه دے . بيشکه دَ آسمانونو او دَ زمکے بادشاهي صرف دَ الله تعالیٰ ده هغه
يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١١٦﴾
هغه ژوندي کوي | او مړه کوي | او نشته دے تاسو له | بے له خدائے نه | هيڅوک دوست | او نهٔ څوک مدد گار
ژوندي کوي او مرگ راولي . او بے دَ الله تعالیٰ نه ستاسو بل هيڅوک دوست يا مدد گار نشته .
لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ
البته متوجه شو | الله | په خپل نبي | او په مهاجرينو | او په انصارو | کوم چه
بيشکه الله تعالیٰ دَ خپل پيغمبر او دَ هغه مهاجرينو او انصارو په حال توجه وکړه چه په
اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ ۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ
پيروي وکړه دَ ده | په وخت | دَ تنگسيا کښې | پس له دے نه | نزدے وه چه واوړي | زړونه
دائے تنگسيا کښے ئے دَ پيغمبر سره ملگرتيا وکړه ، پس له دے نه چه دَ ځنو خلقو زړونه رغړيدلی
فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٧﴾
ډلے يوے | له دوي نه | بيا هغه متوجه شو | په هغوي | بيشکه دے | په دوي | ډير مهربان | نهايت رحم کوونکے دے
وو ، هغه په دوي مهربانه شو . بيشکه الله تعالیٰ په دوي ډير مهربان رحم کوونکے دے
وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ؕ حَتّٰٓى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ
او په هغه دريو کسانو | دَ کومو فيصله چه ملتوي شوې وه | تر دے چه | هر کله تنگه شوه | په دوي | زمکه
او په هغه دريو کسانو هم هغه مهرباني وکړه دَ کومو معامله چه ملتوي کړے شوې وه . تر دے چه زمکه پرے سره دَ فراخئ

بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا

سره د ارت والي د ځمکې | او تنګ شول | په دوی | ځانونه د دوی | او دوی ګمان وکړو

او د ځمکې سره د فراخۍ نه تنګه شوه ، او خپل ژوندون ور باندې بار شو ، او په دې پوهه شول چه د

أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا

چه نشته دې پناه | د الله نه | مګر صرف هم د ده سره | بیا ده مهربانی وکړه | په دوی باندې | چه دوی توبه وکړي

الله تعالی د قهر نه پل هیڅ ځائے کښې پناه نشته بې د ځنې نه نو الله تعالی پرې مهربانه شو چه دوی آینده هم

إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ

بیشکه هم الله | توبه قبلوونکے | مهربان دے | اے د ایمان خاوندانو! | دویرېږئ د الله نه

توبه وباسی بیشکه الله تعالی توبه قبلوونکے مهربان دے . اے مؤمنانو ! د الله تعالی نه ویره کوئ

وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ ﴿١١٩﴾ مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ

او شئ | سره | د رښتیا ویونکو | (جائز) نه وه | مدینې والو له | او هغو چه

او د رښتینو خلقو سره ملګری وسېږئ . د مدینې خلقو له او د ګیر چاپېره کلی والو

حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ وَ

چه چاپېره د دوی وو | له کلی والو نه | چه دوی وروستو پاتې شی | د رسول الله نه | او

له دا مناسب نه وو ، چه د الله تعالی د رسول نه ورروستو پاتې شی او

لَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهِ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ

د ځان زیات خوښ وګنړی | خپل ځانونه | د ده د ځان نه | دا حکم چه | نه رسیږی دوی ته

خپل ځان ورته د پیغمبر نه خوږ ښکاره شی ، دا حکم چه دوی ته هر کله د الله تعالی

ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ

تنده | او نه ستومانی | او نه لوږه | د الله په لاره کښې | او نه دوی پائمال کوی

په لاره کښې لږه ډېره تنده یا ستومانی او لوږه ورسیږی ، یا په داسې لاره

مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ

څه ځائے | چه ناراض کوی | کافران | او نه دوی حاصلوی | د دښمن نه | څه کامیابی | مګر لیکلے شی

لاړه شی چه کافران پرې خفه کیږی ، یا د دښمن نه بدل واخلی ، نو په دے هر

لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ

دوی د پاره | د هغې په بدل کښې | عمل | نیک | بیشکه الله | نه ضائع کوی | اجر

یو کار باندې د دوئ یوه نیکی لیکلے شی ، واقعی الله تعالی د نیکانو اجر نه ضائع

الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنْفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ

د نیکو کارو | او دوی نه خرچ کوی | (څه) خرچ | وړوکے | او نه لوئے | او دوی نه قطع کوی

کوی . او دا ئے نه کیږی چه دوی دې یو خرچ وکړی لږ یا ډیر او یا دې یو میدان

وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ

(څنګه) وادي | مګر ليکلے شي | دوی دپاره | دپاره د دې چه جزا ورکړي دوی ته | الله | ډيره ښه

نه تيريږي او هغه ډ ونه ليکلے شي ، داځکه چه الله تعالیٰ دوی له د نيکو کارونو ډيره ښه

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً

د هغه څه چه دوی به کول | او نه دی مناسب | مؤمنانو له | چه ووځي | ټول

بدله ور کړه . او دا خبره مناسبه نه ده چه ټول مومنان د ووځي

فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ

پس ولے ونه وتل | له هرے فرقے | د دوی نه | څه خلق | چه پوهه حاصله کړي | په دين کښے

او داسے ډ ولے نه وی چه د هرے يوے ډلے نه څو کسان راووځي چه دوی په دين کښے پوهه حاصله کړي

وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ ع ۱۵ / ۴

او چه ووبيروي | خپل قوم | هر کله چه واپس ورشي | د دوی طرفته | چه دوی | وو ويريږي

او کله چه خپل قوم ته واپس ورشي نو چه دوی (د الله تعالیٰ د نافرمانۍ نه) وو يروي چه هغوی د بدو کارونو نه بچ شي

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا

اے د ايمان خاوندانو ! | جنګ کوئ د هغو خلقو سره | چه نزدے دی تاسو ته | له کافرانو نه | او بيا د مومي دوی

اے مؤمنانو ! هغه کافران چه ستاسو خوا ؤشا دی هغوی سره جنګ کوئ او (داسے جنګيږئ) چه

فِيْكُمْ غِلْظَةً ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ الربع

په تاسو کښے | سختی | او پوهه شئ | چه الله | د پرهيزګارو سره دے | او هر کله چه نازلولے شي

دوی په تاسو کښے سختی بيا موی او پوهه شئ چه الله تعالیٰ د پرهيزګارو ملګرے دے او هر کله چه يو سورت

سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ

يو سورت | نو ځنے له دوی نه | هغه څوک دي | چه وائي | په تاسو کښے د چا | زيات کړو | دے (سورت)

نازل کړے شي نو په دوی کښے ځنے (منافقان) وائي چه دے سورت په تاسو کښے د چا ايمان

اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ

ايمان | پس کومو خلقو چه | ايمان راوړے دے | پس هغے زيات کړو د دوی | ايمان | او دوی

زيات کړو . پس کومو خلقو چه ايمان راوړے دے هغے د دوی ايمان له ترقي ورکړے ده او دوی

يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ

خوشحالے يږی . | او هغه خلق چه | په زړونو د دوی کښے | مرض (دے) | پس زيات کړه هغے دوی له

خوشحالے يږی . او هغه خلق د کومو په زړونو کښے چه (د نفاق) مرض دے هغے سورت د دوی د

رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ

پليتئ | د پاسه پليتی | او مړه شول دوی | او دوی وو کافران | آيا دوی نه ګوري | چه دوی

منافقت په ګندګئ کښے نور زياتے وکړی او دوی هم د کفر په حالت کښے مړه شول . آيا دوی دا ته نه ګوري چه دوی

يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ

ازمېښت غورزولے شي | په هر کال کښې | يو ځل | يا | دوه ځله | بيا | دوی توبه نه کوی

هر کال يو ځل يا دوه ځله په يو آفت کښې غورزولے شي . خو بيا هم توبه نه وُباسي

وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ

او نه دوی | نصيحت اخلي | او هر کله چه | نازلولے شي | يو سورت | (نو) وګوري | ځينې له دوی نه

او نه ترے نه عبرت اخلي . او هر کله چه يو نوے سورت را نازل شي ، نو دوی يو بل ته

اِلٰى بَعْضٍ ؕ هَلْ يَرٰىكُمْ مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ

ځنو ته | چه آيا ګوري تا ته | څوک سړے ؟ | بيا | دوی واپس شي | واړول | الله

ګوري . چه آيا تاسو ته څوک (مسلمان) خو ګوري نه ؟ بيا دوی (غلی غوندې) وځي . الله تعالٰی د دوی زړونه

قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ

زړونه د دوی | ځکه چه دوی | (داسې) خلق دی | چه پوهه نه لري | راغلے دے تاسو ته | يو پيغمبر

(د ايمان نه) واړول ولے چه دوی داسې خلق دی چه نه پوهيږی . (اے خلقو!) تاسو ته هم له تاسو نه يو رسول

مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ

له تاسو نه | ګران دے | په هغه | ستاسو تکليف | حد نه زيات خواهشمند دے ستاسو | په مومنانو

راغلے دے . ستاسو تاوان په هغه بد لګي ، ستاسو د ښيګړے ډير خواهشمند دے ، د مؤمنانو په

رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ ۗ لَآ اِلٰهَ

زيات مهربان | رحم کوونکے دے | بيا (هم) که چرے | دوی مخ واړوی | نو دوا يه | کافی دے ماله الله | نشته څوک معبود

حقله ډير زړه سواند او مهربان دے . نو که ادس هم دوی مخ وګرځوی نو ته ورته وواي چه ماله يوازے الله بس دے ، بے د هغه نه

اِلَّا هُوَ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾

بے له هغه نه | هم په هغه | ما توکل وکړو | او هم هغه دے | مالک | د عرش | لوے

بل معبود نشته ، په هغه م توکل دے او هغه د لوے عرش مالک دے .

ع ١٦ ٥

سُوْرَةُ يُوْنُسَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تِسْعُ اٰيَاتٍ وَّاَحَدَ عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة يونس مکی دے او په دې کښې | (شروع) د الله په نوم چه لوے مهربان ډير زيات رحم کوونکے دے | يو سل نهه آيتونه او يوولس رکوعګانې دی

شروع کوم د الله په نوم سره چه لوے مهربان د ډير زيات رحم خاوند دے

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۱﴾ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا

الٓرٰ | دا آيتونه دی | د کتاب | خاوند د حکمت | آيا خلقو ته وُشو | تعجب

الف.لام.را دا د داسے کتاب آيتونه دی چه په حکمت پوره دے - آيا دے خلقو ته دا خبره عجيبه ښکاره

اَنْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ وَ

(د دې خبرې) چه موږ حکم وليږلو | يو سړی ته | له دوی نه | چه | ووېروه | خلق | او

شوه چه موږ په دوی کښې يو سړی (نبی علیه السلام) ته دا وحی راوليږله چه خلق (د الله د نيولو نه) وېروه ، او

المنزل الثالث ٣

بَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

زیرے ورکړه | مسلمانانو ته | چه دوی د پاره ده | مرتبه | رښتینې | د دوی د رب سره

چه څوک ایمان راوړی هغوی ته زیرے ورکړه چه هغوی له د خپل رب سره اوچته مرتبه مقرر ده ،

قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ۝٢ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ

ووئیل | کافرانو | بیشکه دے | جادوګر دے ښکاره | بیشکه ستاسو رب | الله (دے) | کوم چه

(او په دے خبره) کافران وائی چه دا سړے خو ښکاره جادوګر دے . بیشکه ستاسو رب صرف الله تعالی دے

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى

پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه | په شپږو | ورځو کښے | بیا قائم شو

چه آسمانونه او زمکه ئے په شپږو ورځو کښے پیدا کړل ، بیا په عرش باندې

عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ

په عرش باندې | تدبیر کوی | د کار | نشته دے څوک سفارش کونکے | مګر | پس

قائم شو ، هغه د هر کار انتظام کوی ، د ده په وړاندې څوک سفارش نه شی کولے مګر پس له دے نه چه

اِذْنِهٖ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝٣

له اجازت د ده نه | هم دا | الله | ستاسو رب دے | پس عبادت کوئ د ده | پس آیا تاسو غور نه کوئ .

هغه د ئے اجازت ورکړی (خلقو) هم دا الله ستاسو رب دے هم د ده عبادت کوئ آیا تاسو غور نه کوئ (یاد ساتئ)

اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ اِنَّهٗ يَبْدَؤُا

د ده طرف ته | ستاسو واپس تلل دی | د ټولو | وعده ده د الله | رښتینې | بیشکه هم هغه د اول ځل پیدا کوی

هغه ته ستاسو د ټولو واپسی ده ، دا د الله تعالی رښتینې وعده ده ، مخلوق اول هم هغه پیدا

الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

مخلوق | بیا به هم هغه دوباره ژوندی کوی هغه | چه جزا ورکړی | هغو کسانو ته | چه ایمان ئے راوړے دے | او عمل ئے کړے دی

کړے دے او بیا به ئے هم هغه دوباره ژوندی کوی چه هغه خلقو ته په انصاف بدله ورکړی چه ایمان ئے راوړے

الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ

نیک | په انصاف سره | او هغه کسان | چه کافران شول | دوی له | څښل دی | له ګرمو اوبو نه

دے او نیک کارونه ئے کړی دی ، او هغه خلق کوم چه انکار وکړو ، هغوی له د څښلو د پاره ایشیدلے اوبه

وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۝٤ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ

او عذاب | دردناک | په سبب د هغے چه | دوی به کفر کولو | هم هغه دے چا چه | جوړ کړو

او د کفر او انکار په وجه د دوی له دردناک عذاب مقرر دے . الله هغه ذات دے چه نمر ئے

الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ

نمر | پرقیدونکے | او سپوږمئ | روښانه | او مقرر ئے کړل د دے | منزلونه | چه تاسو معلوم کړئ | شمیر

پرقیدونکے جوړ کړو او سپوږمئ ئے روښانه او هغے له ئے سم په حساب منزلونه مقرر کړل ، چه تاسو تر دے نه

السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۭ مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ

دَ کلونو | او حساب | نه دی پیدا کړی | الله | دا (هرڅه) | مګر | برحق

دَ کلونو په شمېر او (دَ وخت) په حساب پوهه شئ ـ الله تعالیٰ دا څيزونه په حق و صداقت سره پیدا کړی دی

يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝۵ اِنَّ فِي اخْتِلَافِ

هغه بیانوی | آیتونه | دَ هغه قوم دَ پاره | چه پوهېږی | بیشکه | په بدلیدو کښې

هغه علم والو دَ پاره نخښې په رانستلی بیانوی ـ بیشکه دَ شپې او ورځې په بدلیدو کښې او

الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ

دَ شپې | او دَ ورځې | او څه چه | پیدا کړل الله | په آسمانونو | او زمکه کښې | نخښې دی

څه چه الله تعالیٰ په آسمانونو او زمکه کښې پیدا کړی دی په دے ټولو کښې هغو خلقو دَ پاره

لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝۶ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَاۗءَنَا وَرَضُوْا

دَ هغه قوم دَ پاره | چه ویرېږی | بیشکه | هغه خلق چه | اُمید نه لری | زمونږ دَ ملاقات | او خوشحاله دی

نخښې دی کوم چه پرهیزګاره دی ـ بیشکه هغه خلق کوم چه زمونږ دَ ملاقات اُمید نه لری او هم دَ

بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا

په ژوند | دَ دُنیا | او مطمئن دی | په دے | او هغه کسان چه هغوی | له نخښو زمونږ نه

دنیا په ژوند خوشحاله او هم په دے مطمئن دی ، او هغه خلق چه زمونږ دَ آیتونو نه

غٰفِلُوْنَ ۝۷ اُولٰۗىِٕكَ مَاْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝۸

بے خبره دی | هم دَ دوی ځائے دے | دوزخ | په سبب د هغه عمل | چه دوی به کولو ـ

بے خبره دی ، دَ داسے خلقو ځائے دَ دوی دَ عملونو په وجه دوزخ دے ـ

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ

بیشکه هغه چا چه | ایمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل | نیک | لاره به وښائی دوی ته | رب دَ دوی

بیشکه هغه خلق چه ایمان ئے راوړو او نیک عملونه ئے وکړل ، هغوی به خپل رب دَ ایمان په

بِاِيْمَانِهِمْ ۚ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝۹

په وجه دَ ایمان دَ دوی | بهیږی به | دَ هغے لاندې | نهرونه | په باغونو کښې | دَ نعمت

برکت (داسے ځایونو ته) ورسوی چه لاندې به ترے نه (نهرے) وے بهیږی دَ عیش په باغونو کښې هلته

دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ

بلنه دَ دوی به وی | په هغے کښې | پاک ئے ذات ستا | اے الله ! | او دَ دوی دعا به وی | په هغے کښې | سلام

به هغوی وائی چه " اے الله ! ته پاک یئے " او هلته به دَ هغوی (یو بل سره) دعا دا دی سلامتی وي

وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۰

او خاتمه دَ | دَ دوی دَ دُعا | چه ټول تعریفونه | الله لره دی | چه رب دے | دَ ټولو جهانونو

او دَ هغوی دَ دُعا دا دوستیٔ وینا به (همیشه) دا وی چه ټول تعریف الله لره دے چه دَ ټول مخلوق پالونکے دے

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ

اوكهٔ چرې تندي كولے | الله | خلقو ته | تكليف (رسولو كښې) | لكه چه دوى تندي غواړي | په ښيګړه رسيدو كښې

اوكهٔ چرې الله دَدوى دَ بدٌ عملونو سزا دوى ته په تندۍ ورکولے لکه چه دوى په تندۍ ښېګړه غواړي.

لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ اَجَلُهُمْ ۭ فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ

نو پوره كړے شوے به وه | دوى دَ پاره | موده دَ دوى | پس مونږ پريږدو | هغه خلق چه | اُميد نهٔ لري

نو دَ دوى ميعاد به (بخوا) پوره شوے وو، نو مونږ هغه خلق چه زمونږ دَ ملاقات اُميد نهٔ لري

لِقَاۗءَنَا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ (١١) وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ

زمونږ دَ ملاقات | دَ دوى په نافرمانئ كښې | سرګردانه پريږدو | او هر كله چه ورسيږي | انسان ته | تكليف

پخپله سركشئ كښې سرګرداني پرېږدو. او هر كله چه انسان ته تكليف رسي نو هغه

دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖٓ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَاۗىِٕمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ

نو بلي مونږ ه | (ملاست) په ډډه | يا په ناسته | يا په ولاړه | بيا هر كله چه | لرے كړو مونږ | له دهٔ نه

وخت مونږ بلي هم په ملاسته، هم په ناسته او هم په ولاړه، بيا هر كله چه مونږ دَ دهٔ تكليف

ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَآ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ۭ كَذٰلِكَ

دَ دهٔ تكليف | نو دے روان شي | لكه چه مونږ دهٔ هيڅ بللي نه وو | دَ تكليف (لرے كولو له) | چه دهٔ ته رسيدلے وو | دغه شان

لرے كړو نو دا سے روان شي لكه چه دهٔ هيڅ چرے په دغه سختۍ كښې مونږ رابللي نه وو، دغه شان

زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (١٢) وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا

ښائسته كړے شول | حد نه تيريدونكو ته | هغه عملونه چه دوى كول | او يقيناً | هلاك كړي دي مونږ

حد نه تيريدونكو ته دَ هغوى عملونه ښهٔ معلوميږي. او مونږ له تاسو نه وړاندې ډير قومونه

الْقُرُوْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا ۙ وَجَاۗءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

(هغه) اُمتونه | چه تاسو نه وړاندې وو | هر كله چه دوى ظلم وكړو | او راغلي وو دوى ته | پيغمبران دَ دوى

هلاك كړل هر كله چه دوى ظلم وكړو، حال دا دے چه دوى ته دَ دوى پيغمبران په

بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي

په (روښانه) نخښو سره | او نهٔ وو دوى (دا سے) | چه ايمان ئے راوړے وے | دغه شان | مونږ سزا وركوو

ښكاره نخښو سره راغلي وو، مګر دوى داسې هم دوى دا سے نهٔ وو چه ايمان ئے راوړے وے، مونږ مجرمانو خلقو له

الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ (١٣) ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ خَلٰۗىِٕفَ فِي الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

قوم | دَ مجرمانو ته | بيا مونږ كړئ تاسو | نا ئبان | په زمكه كښې | دَ هغوى نه پس

هم دغسې سزا ګانې وركوو. بيا دَ دوى نه پس مونږ تاسو دَ زمكے په مخ باندې نائبان مقرر كړئ

لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ (١٤) وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ

چه مونږ وګورو (چه) څنګه | تاسو عمل كوئ | او هر كله چه لوستلے شي | په دوى باندې | زمونږ آيتونه | واضحه

چه مونږ وګورو چه تاسو څنګه عمل كوئ. او هر كله چه دوى ته زمونږ ښكاره آيتونه ولوستلے شي

قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ائْتِ بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَآ

نو وائي | هغه خلق چه | اُميد نهٔ لري | زمونږ دَ ملاقات | چه راوړه | قرآن | بې له دے نه

نو څوک چه زمونږ دَ ملاقات اُمید نهٔ لري هغوي وائي چه دَ دے نه بغیر چرته یو بل قرآن راوړه

اَوْ بَدِّلْهُ ؕ قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَآئِ نَفْسِيْ ۚ

یا بدل کړه دا | ووایه | نهٔ دے زما دا حق | چه زهٔ بدل کړم دا | دَ خپل ځان دَ طرف نه

یا دا بدل کړه، ورته ووایه چه زهٔ دا نهٔ شم کولے، چه دَ خپل ځان نه دِ دے کښے رد و بدل وکړم

اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ

زهٔ پیروي نه کوم | مګر دَ هغه څه | چه وحي کیږي | زما طرف ته | بیشکه زهٔ ویریږم | که چرے نافرماني وکړم زهٔ

زهٔ خو بس په هغه حکم پسے روان یم کوم چه ماته دَ وحي په ذریعه راورسي، که زهٔ دَ خپل رب (دَ حکم) نافرماني

رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۵﴾ قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ

دَ خپل رب | دَ عذاب نه | دَ ورځے | لوئے | ووایه | که چرے الله غوښتے | نو ما به نهٔ وو لوستے دا

وکړم نو دَ (قیامت دَ) لوئے ورځے دَ عذابه ویریږم. ورته ووایه چه که دَ هغه اﷲ رضا وے نو ما به دا کلام تا

عَلَيْكُمْ وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ؕ

په تاسو | او نهٔ به وو خبردار کړي تاسو په دے | پس بیشکه پاتے شوے یم زهٔ | ستاسو مینځ کښے | یوه موده | له دے نه وړاندې

ته هم وا نهٔ وے اورولے او نهٔ به الله تاسو خبر کړي وئ. او بیا زهٔ خو په تاسو کښے دَ دے نه وړاندې هم ډیر عمر پاتے شوے یم

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

پس آیا تاسو نهٔ پوهیږئ | پس څوک | زیات ظالم دے | دَ هغه چا نه | چه وتړي | الله باندې | دروغ

نو آیا تاسو دَ عقل نه کار نهٔ اخلئ. نو دَ هغه چا نه څوک زیات ظالم به بل څوک وي چه په الله باندې دَ دروغو تهمت

اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَيَعْبُدُوْنَ

یا دروغ وګڼړي | دَ هغهٔ آیتونه | بیشکه فلاح نهٔ بیا موي | مجرمان خلق | او دوي عبادت کوي

تړي یا دَ هغهٔ احکام دروغ ګڼړي نو یاد ساتئ چه دَ داسے مجرمانو خلاصے نشته. او دوي دَ الله تعالیٰ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ

بې له خدائے نه | دَ هغه څیز چه | نهٔ نقصان رسوي دوي ته | او نهٔ نفع رسوي دوي ته | او دوي وائي

نه سوا دَ داسے څیزونو عبادت کوي چه نهٔ ورته نقصان رسولے شي او نهٔ فائده او وائي چه

هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ ؕ قُلْ اَتُنَبِّئُوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ

دا (بتان) خو | زمونږ سفارشیان دي | په نزد دَ الله | ووایه | آیا تاسو خبر ورکوئ | الله ته | دَ هغه څه | چه نهٔ دي پوهه

دوي دَ الله تعالیٰ په دربار کښے زمونږ سفارشیان دي. ورته ووایه چه آیا تاسو الله تعالیٰ دَ هغه خبرو نه

فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۸﴾

په آسمانونو کښے | او نهٔ په زمکه کښے | هغه پاک | او ډیر اوچت دے | له هغه څه نه | چه دوي ئے شریک جوړوي

خبردار کوئ چه هغهٔ ته نهٔ خو په آسمانونو کښے معلومے دي او نهٔ په زمکه کښے، هغه پاک دے او دَ دوي دَ شرک نه ډیر اوچت دے

وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ

يو خبره | او كه چېرته نه وې | بيا دوى اختلاف وكړو | مګر يو امت | خلق | او نه وو

او (په شروع كښې) ټول خلق صرف د يو جماعت وو بيا په دوى كښې اختلاف پيدا شو ، او كه ستا د رب د طرف نه

سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾

دوى اختلاف كوو | په كومه خبره كښې چه | د دوى په مينځ كښې | نو فيصله به شوې وه | ستا د رب له طرف نه | د وړاندې (فيصله شوې)

يوه خبره اول فيصله شوې نه وې ، نو د دوى ترمينځه په د دې اختلاف په حقله (څخوا) فيصله وركړې شوې وه

وَيَقُولُونَ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۖ فَقُلْ

پس دوايه | د ده د رب د طرف نه | (څه) نخښه | په ده | ولې نازله نه شوه | او دوى وائي

او دوى وائي چه د دوى د رب د طرف نه په دوى باندې څه معجزه ولې نازله نه شوه ؟ نو ته ورته دوايه

إِنَّمَا ٱلْغَيْبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓا۟ ۖ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٢٠﴾

له انتظار كوونكو نه يم | تاسو سره | بيشكه زه (هم) | پس انتظار كوئ | چه بيشكه علم د غيبو الله ته (معلوم) دے

چه د غيبو علم خو صرف الله تعالى ته دے نو تاسو انتظار وكړئ زه به هم تاسو سره انتظار كوم .

وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً مِّنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ

چه رسيدلې وى دوى ته | پس له تكليف نه | (د) رحمت (مزه) | خلقو ته | موږ وڅكوو | او هركله چه

او هر كله چه موږ خلقو ته د تكليف رسيدلو نه پس د رحمت مزه وڅكوو ، نو

إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِىٓ ءَايَاتِنَا ۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ

بيشكه | په تدبيرونو كښې | ډير زيات تېز دے | دوايه الله | زموږ په آيتونو كښې | دوى چالاكي كوي | (نو) فورًا

دوى فورًا زموږ د آيتونو په حقله فريبونه شروع كړي (اے نبي!) دوايه چه الله تعالى د مكر سزا ډير زر وركوي

رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُسَيِّرُكُمْ فِى ٱلْبَرِّ

په اوچه | چه روانوي تاسو | دے هغه ذات دے | كوم چالاكي چه تاسو كوئ | ليكي | زموږ (ليږلي شوي)

بيشكه چه زموږ فرښتې ستاسو فريبونه لګيادي ليكي . الله تعالى هغه ذات دے چه تاسو په اوچه مزكه

وَٱلْبَحْرِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمْ فِى ٱلْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم

او روانې شوې كشتۍ په سورو لو چلو | په كشتۍ كښې | هركله تاسو يئ | تردې چه | او په درياب كښې

او په سمندر كښې ګرځوي ، تردې چه هر كله تاسو په كشتۍ كښې سواره شئ او هغه كشتۍ د اخلق د موافق

بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا۟ بِهَا جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ

سيلۍ سخته | نو راشي په دې (كشتو) | په دے سره | او دوى خوشحاله شي | په موافق باد و تو سره

باد و تو په ذريعه روان كړي او دوى پرې خوشحاله شي نو په دے كښې (ناګهانه) پرې د (مخالف) باد يوه

وَجَآءَهُمُ ٱلْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ

راګير شول | چه دوى | او دوى خيال كوي | له هر طرف نه | څپې | او راغلې په دوى

څپې راشي او د هرې غاړې نه پرې د او بو څپې راخورې شي او دوى پوهه شي چه (بس) اوس مونږ راګير شو .

ع ٢ / ١٠ / ٧

دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا

تاخلاصے راکړو موږ ته | که چرې | عبادت | هغهٔ دَپاره | په خالص کولو | دوی بلې الله

نو هغه وخت الله تعالیٰ ته آواز وکړی ډیر په اخلاص سره ، چه که تا موږ د دے (طوفان) نه خلاص

مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ

له دے (غرقابئ) نه | نو موږ به ضرور یُو | له شکر کُن اروَنه | پس هر کله چه | هغهٔ خلاصے ورکړو دوی ته

کړو نو موږ به ستا ډیر ډیر شکرونه اداکړو . خو هر کله چه الله تعالیٰ ورته نجات ورکړی نو

اِذَا هُمْ يَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

نو هغه وخت دوی | بغاوت شروع کړو | په زمکه کښے | په ناحقه | اے خلقو!

لاساعت تیر نهٔ وی چه دوی د زمکے په مخ بر ناحقه سرکشي شروع کړی اے خلقو!

اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ ۙ مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ ثُمَّ اِلَيْنَا

بیشکه ستاسو سرکشي (وبال) | ستاسو په ځانونو (به پریوځي) | (داخو) سامان دے | د ژوند د دُنیا | بیا زموږ طرفته

داستاسو سرکشي هم ستاسو په خپلو سرونو راپریوتونکے ده ، د دُنیا ژوندُ (د یو څو ورځو) فائده ده ، بیا ستاسو

مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ اِنَّمَا مَثَلُ

ستاسو واپس راتلل دي | بیا به موږ وښایو تاسو | څهٔ چه | تاسو کول - | بیشکه | مثال

هم موږ ته واپسی ده نو موږ به درته ستاسو ټول کارونه ښهٔ په ګوته کړو بیشکه د دنیا د ژوند مثال

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ

د ژوند | د دُنیا | په شان د اوبو دے | چه رالیږلی کوو موږ هغه | له آسمان نه | بیا په خپل مینځ کښے ملاؤ شي

د هغه اوبو په شان دے کومے چه موږ له آسمان نه راوروے بیا ئے اوبو سره په

بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ؕ حَتّٰۤى

ئے سره | زرغونه | د زمکے | له کومے نه چه خوری | خلق | او څاروی | تردے چه

ملاویدلو د زمکے سبزه ښه راوُختله کومه چه انسانان او حیوانان خوری ، ترڅو چه زمکه (په

اِذَاۤ اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَاۤ اَنَّهُمْ

هر کله | ونیولو | زمکے | خپل رونق | او ښائسته شوه | او خیال وکړو | زمکے والؤ | چه دوی

ښهٔ شان) خپل رونق ته ورسیده او ښائسته ښکاره شوه نو د دے مالکانو داخیال وُکړو چه دوی

قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَاۤ ۙ اَتٰىهَآ اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا

قدرت لری | دے (نه په فائده اخستلو باندې) | نو (ناګهانه) راورسیدلو په دے | زموږ حکم | د شپے | یا د ورځے

په دے باندې پوره قدرت لری ، په دے کښے (ناګهانه) زموږ حکم (عذاب) د شپے یا د ورځے

فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ ؕ كَذٰلِكَ

پس موږ کړلو هغه | د ریبلے شوی فصل (په شان) | لکه چه هغه هیڅ نه وو | پرون | دغه شان

راورسیدو نو هغه مو داسے سپیره ډاګه کړه لکه چه پرون په کښے هیڅ څهٔ وونه ، هم دغه شان

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا

موږ بيانوو | نخښې | هغه خلقو دَ پاره | چه غور فکر کوي | او الله | راغواړي

ښکاره نخښې هغو خلقو دَ پاره په تفصيل سره بيانوو چه دَ فکرنه کار اخلي . او (دَ دے په مقابله کښې) الله تعالیٰ

اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٥﴾

دَ سلامتئ دَ کور (جنت) طرف ته | او ښائي | هغه چا ته | چه غواړي | لار ته | نيغه

(تاسو) دَ سلامتيا کور ته رابلي او دَ چا په حقله ئے چه رضا شي نو په نيغه لاره ئے روان کړي۔

لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ ؕ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ

هغو خلقو له | چه نيکي وکړي | نيکه بدله ده | او زياتي هم | او نه به راخوريږي | په مخونو دَ دوي

چا چه دَ نيکئ لار واخسته هغوي له خپله نيکي هم ده او زياتے (ورپسے) هم ، دَ هغوي په مخونو به نه تيارة

قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٦﴾

توروالے | او نه ذلت | هم دادي | جنتيان | دوي به په دے کښې هميشه وسيږي

راخوريږي او نه ذلت هم دغه خلق جنتيان دي او تل تر تله به پکښې وسيږي

وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍۢ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ

او کوم خلقو چه وکړل | بد کارونه | (نو) بدله | دَ بدئ | په شان دَ هغے ده | او خوريږي به په دوي

او چا چه (ځان له) بدي ګټلي وي نو دَ بدئ سزا به هم بدي وي او ذلت به پرے

ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ

رسوائي | نه به وي دوي ته پاره | دَ الله نه | (څوک) بچ کوونکے | لکه چه | اغوستلے شوي وي

راخوره شي او هيڅوک به ئے دَ الله (دَ عذاب) نه بچ نه کړي ، دَ هغوي په مخونو به داسے تيارے

وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ مُظْلِمًا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

دَ دوي مخونو ته | ټوټے | دَ شپے | توره تيارے | هم دا خلق | دوزخيان دي

ښکاري لکه چه دَ توره شپے ټوټے پرے راخورے شوي دي ، هم دغه خلق دوزخيان دي

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

دوي به په دے کښې | هميشه وي | او په کومه ورځ چه موږ دوي راجمع کړو | ټول | بيا به موږ ووايو | هغو خلقو ته

په دے کښې به هميشه پراته وي ، او په کومه ورځ چه موږ دوي ټول را يو ځائے کړو ، نو مشرکانو ته به ووايو

اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ

چا چه شرک کړے وو | (ودريږئ) په خپل خپل ځائے تاسو | او ستاسو شريکان (معبودان) | بيا به موږ جدائي راولو | په مينځ دَ دوي کښے

چه تاسو او ستاسو (جوړکړي) خدايان په خپل خپل ځائے ودريږئ نو بيا به دَ دوي ترمينځه جدائي راولو

وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٨﴾ فَكَفٰى بِاللّٰهِ

او وبه وائي | شريکان دَ دوي | چه تاسو زموږ عبادت نه وو کړے | پس کافي دے | الله

او دَ هغوي (جوړکړي) شريکان به ورته ووائي چه تاسو خو زموږ عبادت (هيڅکله هم) نه کولو۔ او الله تعالیٰ

شَهِيدًۢا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿٢٩﴾

گواه | په مینځ زمونږ | او په مینځ ستاسو کښې | مونږ وُو | ستاسو له عبادت نه | بے خبره

زمونږ او ستاسو تر مینځه گواه کافی دے۔ چه مونږ خو ستاسو د عبادت نه خبر (قدر له) هم نه وُو۔

هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ وَرُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ

هلته به | بیا مومی | هر یو کس | هغه څه چه وړاندې ئے لیږلی وو | او دوی به واپس کړے شی | الله طرف ته

نو هلته به هر څوک د خپل عمل اندازه ولگوی چه د ځان نه وړاندې ئے لیږلے وو ، او دوی به خپل برحق

مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٣٠﴾ قُلْ

(چه) د دوی مالک دے | حقیق | او ورکے به شی | له دوی نه | هغه خبرے چه دوی به د دروغو جوړولے | دوایه

مولیٰ ته واپس کړے شی او کوم دروغ چه به دوی جوړول د دوی نه به ورک شی۔ ورته ووایه

مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ

څوک | روزی درکوی تاسو ته | له آسمان نه | او زمکے (نه) | یا څوک دے | چه مالک دے | د غوږونو

چه څوک د آسمان او زمکے نه تاسو له رزق درکوی ، یا څوک دے چه ستاسو د غوږونو او

وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ

او د سترگو | او څوک دے | چه راوباسی | ژوندے | له مړی نه | او راوباسی | مړے

سترگو مالک دے ، او څوک دے چه د مړی نه ژوندی راوباسی ، او د ژوندی نه مړے

مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ فَقُلْ

له ژوندی نه | او څوک دے | چه انتظام کوی | د کار | پس ژر به وائی | الله | نو ووایه

راوباسی ، او څوک دے چه د هر کار انتظام کوی ، نو دوی به فوراً ووائی الله ، نو ته پوښتنه وکړه (بیا)

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٣١﴾ فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعْدَ

پس آیا تاسو نه ویریږی؟ | پس هم دا الله | ستاسو رب دے | ریښتینے | پس څه دی | پس

تاسو د هغه د نافرمانئ) ویریږئ نه؟ پس هم دا الله تعالیٰ ستاسو حقیق رب دے ، نو د حق نه پس نور څه پاتے شول

الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۚۖ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿٣٢﴾ كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ

له حق نه | سوا د گمراهئ نه | پس کم خوا | تاسو روان یئ | دغه شان | ریښتینی شوه | خبره

بغیر د گمراهئ نه . آخر دا تاسو په کوم اړخ روان یئ؟ هم دغسے ستاسو د رب خبره د

رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾ قُلْ هَلْ

ستا د رب | په هغو خلقو چه | نافرمان دی | چه دوی | ایمان نه راوړی | دوایه | آیا

هغو فاسقانو په حقله پوره شوے ده چه دوی به ایمان نه راوړی ، ورته ووایه چه ستاسو په

مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ اللّٰهُ

ستاسو په شریکانو کښے څوک شته دے؟ | چه په اول ځل پیدا کړی | مخلوق | بیا دوباره ژوندی کړی هغه | دوایه الله

(جوړ کړی) شریکانو کښے څوک هم شته چه په اول ځل (یو څیز) پیدا کړی او بیا ئے سر دوباره ژوندے کړی د ، ته دوی ته ووایه چه الله

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ قُلْ

پہ اول ځل پیدا کوی | مخلوق | بیا بہ ئے دوبارہ ژوندے کوی | نو کوم خوا | تاسو اړولی روان یئی | ووایہ

ئے پہ اول ځل هم پیدا کوی او بیا ئے دوبارہ هم. نو دا تاسو کوم خوا اړولی روان یئی. ورته ووایہ

هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ قُلِ اللّٰهُ

آیا (شته دے) | ستاسو لہ شریکانو نہ | هغه څوک چہ | لاره ښائی | حق طرف تہ | ووایہ | الله

چہ آیا ستاسو پہ (جوړ کړو) شریکانو کښے څوک هم شته چہ د حق پہ لاره خلق روان کړی؟ ورته ووایہ چہ الله

يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ؕ اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ

لاره ښائی | حق طرف تہ | نو آیا څوک چہ | لاره ښائی | حق طرف تہ | هغه زیات حق لری

د حق سمہ لاره ښائی ، نو آیا څوک چہ حقہ لاره ښائی هغه زیات حق دار دے

اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۫

چہ تابعداری ئے وکړے شی | یا هغه څوک چہ | لاره نہ بیا مومی | مگر | دا چہ هغه تہ لاره وښودے شی | پس څہ شوی دی پہ تاسو

چہ د هغه تابعداری وکړے شی او کہ هغه څوک چہ پخپلہ هم لاره نہ بیا موی ترڅو چہ ورتہ ونہ ښودے شی. نو دا پہ تاسو څہ

كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ

څنگہ | تاسو فیصلہ کوئ ؟ | او پیروی نہ کوی | اکثر لہ دوی نہ | مگر صرف د گمان | بیشکہ گمان خو

شوی دی څنگہ اړولے فیصلے کوئ ؟ او پہ دوی کښے اکثر خلق خو پہ خپلو گمانونو پسے روان دی ، او بیشکہ چہ گمان د

لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾

پہ کار نہ راځی | د حق پہ مقابلہ کښے | هیڅ هم | بیشکہ الله | پوره دے | پہ هغه څہ چہ دوی ئے کوی

حق پہ مقابلہ کښے هیڅ فائده نہ ورکوی ، بیشکہ الله تعالیٰ تہ د دوی د عملونو پوره پوره علم دے

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ

او نہ دے | دا قرآن | (داسے) چہ جوړ ئے کړی (بل څوک) | سوا د الله نہ | او لیکن

او دا قرآن څہ داسے (کتاب) نہ دے چہ د الله تعالیٰ نہ سوا بل څوک دے پہ دروغہ بانڈے جوړ کړی ، بلکہ دا

تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ

دا تصدیق دے | د هغو چہ | لہ دے نہ وړاندے (کتابونہ) | او تفصیل دے | (د ټولو) کتابونو | (څہ) شک نشتہ

خو د هغو (کتابونو) تصدیق کوونکے دے چہ لہ دے نہ وړاندے موجود دی او د ضروری حکمونو تفصیل دے ، پہ دے کښے هیڅ

فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٧﴾ ۫ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ

پہ دے کښے | (چہ دا) د رب د عالمونو د طرف نہ دے | یا | دوی وائی | چہ هغه دا دروغ تړلے دے | ووایہ

شک شبہ نشتہ چہ د ټول مخلوق د رب د طرف نہ راغلے دے۔ آیا دا خلق وائی چہ دا پیغمبر د ځانہ جوړ کړے دے. ووایہ

فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

نو راوړئ تاسو | یو سورت | پہ شان د دے | او راوبلئ | هغه څوک | چہ رابللے شئ | د الله نہ سوا

کہ (داسے دہ) نو (تاسو هم) د دے پہ شان یو سورت راوړئ او د الله نہ سوا چہ کوم کوم رابللے شئ هغه راوبلئ

إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِمَا لَمْ يُحِيطُوا۟ بِعِلْمِهِۦ

کهٔ چرې یئ تاسو | رښتینی | بلکه | دروغ وګڼړلو دوی | هغه څیزچه احاطه نهٔ ده کړې دوی | په پوهه دَ هغې

کهٔ تاسو رښتینی یئ ـ نا، بلکه دوی هغه څیز (هیڅ په هیڅه) دروغ وګڼړلو کوم چه دَ دوی په علم کښې رانګیر نهٔ شو

وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

او لا نهٔ دې راغلې دوی ته | حقیقت دَ هغې | دغه شان | دروغ وګڼړلو | هغه خلقو چه | له دوی نه وړاندې وو

او دَ دې انجام ورته لا ښکاره شوې نهٔ دې ـ دغه شان دَ دې نه وړاندې خلقوهم (خدائی کتابونه) دروغ ګڼړلی وو

فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٩﴾ وَمِنْهُم مَّن يُؤْمِنُ

پس وګوره | څنګه | شو | انجام | دَ ظالمانو | او څوک له دوی نه | هغه څوک دی | چه یقین لری

نو وګوره چه دَ ظالمانو انجام څومره خراب وُختو ـ او څوک پکښې داسې دی چه په دې کتاب ایمان

بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن لَّا يُؤْمِنُ بِهِۦ ۚ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤٠﴾

په دې | او څوک له دوی نه | هغه دی | چه یقین نهٔ لری | په دې | او ستا ربّ | زیات پوهه دې | په مفسدانو

راوړی او څوک پکښې داسې دی چه ایمان پرې نهٔ راوړی او ستا ربّ فسادیان خلق ډیر ښهٔ پیژنی ـ

ع ۵

وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّى عَمَلِى وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۖ

او کهٔ چرې | دوی تا دروغژن ګڼړی | نو ووایه | ما دَ پاره | زما عمل دې | او تاسو دَ پاره | ستاسو عمل

او کهٔ دوی تا دروغژن ګڼړی نو ورته ووایه چه ما له زما عمل بس دې او تاسو له ستاسو عملونه، تاسو

أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا۠ بَرِىٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾

تاسو | بری یئ | له هغه څهٔ نه | چه زهٔ کوم | او زهٔ | بری یم | له هغه څهٔ نه | چه تاسو کوئ

زما دَ عمل دَ ذمه دارئ نه بری یئ او زهٔ ستاسو دَ عملونو دَ ذمه وارئ نه بری یم

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ ۚ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ

او څوک له دوی نه | هغه څوک دی | چه غوږ نیسی | تا ته | پس آیا تهٔ | آؤروې شې | کڼړو ته؟

او په دوی کښې څوک داسې دی چه تا ته غوږ ونه نیولی دی، نو آیا تهٔ کڼړو ته خبره آؤروې شې؟

وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمِنْهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيْكَ ۚ

اګر کهٔ | دوی عقل هم نهٔ لری | او څوک له دوی نه | هغه دی | چه ګوری | ستا طرف ته

او لا چه دوی دَ عقل نه هم کار نهٔ اخلی ـ او څوک پکښې داسې دی چه (په ښکاره) ستا طرف ته ګوری

أَفَأَنتَ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوا۟ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ

نو آیا تهٔ | لار به ښودلے شې | ړندو ته | اګر کهٔ | دوی نهٔ وینی | بیشکه الله

نو آیا تهٔ ړندو ته لار ښودلے شې او لا چه دوی کتلے هم نهٔ شی، بیشکه الله تعالیٰ په

لَا يَظْلِمُ ٱلنَّاسَ شَيْـًٔا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٤﴾

ظلم نهٔ کوی | په خلقو باندې | هیڅ (هم) | لیکن | خلق (پخپله) | په خپل ځان باندې | ظلم کوی

بنیادمو پورې تې غونډې ظلم هم نهٔ کوی خو دا خلق پخپله په ځانونو باندې ظلم کوی ـ

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوٓا إِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ

اوپه کومه ورځ چه | هغه دوی راجمع کړي | لکه چه دوی نه وو پاتې شوي | مګر | یو ساعت | د ورځې

او هغه ورځ ورته را یاده کړه چه الله به ئې راجمع کړي (نو دنیا ژوند به ورته داسې ښکاري) لکه چه دوی په دنیا کښې هیڅ یو ساعت ګرځي پاتې

يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ ۚ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَآءِ اللَّهِ

دوی به پیژني یو بل | په خپل مینځو کښې | بیشکه | تاوان وکړو | هغو کومو چه | دروغ وګڼل | ملاقات د الله

شوي وو او یو بل به هلته پیژني هم. هغه خلقو ډیر تاوان وکړو چه د الله تعالیٰ ملاقات ئې دروغ وګڼلو

وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿٤٥﴾ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ

او نه ؤو دوی | په سمه لاره تلونکي | او که چرې | مونږ و ښایو تا ته | څه حصه (عذاب) د کوم چه | مونږ د دوی سره وعده کړې

او د په دنیا کښې هم) دوی هدایت موندونکي نه وو. او که مونږ تا ته د هغې (عذاب) څه قدرې برخه و ښایو کوم چه د دوی سره وعده

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ

یا | مونږ تا له وفات درکړو | نو هم زمونږ طرف ته | د دوی واپس راتلل دي | بیا | الله | ګواه دې | په هغه کارونو

کوو یا مونږ تا له (د هغې نه وړاندې) وفات درکړو نو دوی له هم زمونږ طرفته واپس راتلل دي، بیا الله تعالیٰ په هغه کارونو ګواه

مَا يَفْعَلُونَ ﴿٤٦﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمْ قُضِيَ

کوم چه دوی کوي | او د هر یو امت | یو پیغمبر دے | نو هر کله چه | راشي | د دوی پیغمبر | نو فیصله کړے شي

دې کوم چه دوی کول. او هر یو امت ته یو پیغمبر راغلے دے، پس هر کله چه د دوی پیغمبر راشي، نو په انصاف سره د

بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا

د دوی تر مینځه | په انصاف سره | او په دوی | هیڅ ظلم نه شي کولے | او دوی وائي | کله (به وي) | دا

دوی په مینځ کښې فیصله کولے شي او په دوی هیڅ کله ظلم نه شي کولے او دوی وائي چه دا (د عذاب)

الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٤٨﴾ قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِي

وعده | که چرې تاسو | رښتیني یئي | ووایه | زه نه یم مالک | د خپل ځان د پاره

وعده به آخر کله پوره کیږي که تاسو رښتیني یئي ؟ ورته ووایه چه زه خو خپل ځان له هم د ګټې او

ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ اللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ

د (ځان) نقصان | او نه د نفع | مګر څه چه | الله وغواړي | هر یو امت د پاره | یو وخت مقرر دے

تاوان هیڅ اختیار نه لرم خو چه څومره الله تعالیٰ غواړي، هر یو امت له یوه نیټه مقرره ده

إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾

هر کله چه راشي | میعاد د دوی | نو نه | دوی وروستو پاتې کیدے شي | یو ساعت | او نه دوی وړاندې کیدے شي

نو هر کله چه د هغوی وخت پوره شي نو بیا نه خو یو ساعت وروستو پاتې کیدے شي او نه وړاندې کیدے شي.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُهُۥ بَيَاتًا أَوْ نَهَارًا مَّاذَا

ووایه | و خو ګورئ | که چرې | راشي په تاسو | عذاب د هغه | د شپې | یا د ورځې | نو هغه څه (شي) دے

ورته ووایه چه دا خو ووایئ که د الله تعالیٰ عذاب درباندې د شپې یا د ورځې (ناګهانه) راشي نو په هغې کښې داسې

يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٥٠﴾ اَثُمَّ اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنْتُمْ بِهٖ

دَ كوم تادى چه به غواړى | مجرمان خلق | آيا بيا هركله چه | هغه واقع شى | نو ايمان به راوړئ تاسو په هغه

كوم څيز دے چه دَ مجرمانو ورته تلوسه ده. نو آيا چه عذاب راشى نو هله به تاسو ايمان راوړئ

آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ قِيْلَ لِلَّذِيْنَ

آيا اوس (تاسو يقين راوړئ) | حال دا دے چه تاسو | دا | په تندئ غوښتلو | بيا به وُ وئيلے شى | هغو خلقو ته

هغه وخت (به وه وئيلے شى) چه اوس (تاسو ايمان راوړئ)؟ او دے نه وړاندې خو تاسو دَ په جلتئ تادى كوله. بيا به ظالمانو

ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ ۚ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا

كومو چه ظلم وكړو | چه وڅكئ | عذاب | دَ هميشه | تاسو له به بدله نه شى دركولے | مګر دَ هغه څه

ته وئيلے شى چه دَ تل تمرى عذاب مزه څكئ، تاسو ته به دَ خپل عمل نه سوا نوره

كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ؕ قُلْ اِيْ

چه تاسو به كول. | او دوى تپوس كوى له تا نه | آيا رښتيا ده | دا (وعده) | دوايه | هو!

څه بدله دركيدے شى؟ او دوى له تا نه تپوس كوى چه آيا دا خبره رښتيا ده. دوايه چه هو!

وَرَبِّيْٓ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؔۚ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٥٣﴾ وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ

قسم دے په رب زما | بيشكه دا | حقه ده | او نه يئ تاسو | عاجزه كوونكى | او كه چرے وى | دَ هر نفس دپاره

په خپل رب م قسم وى چه دا بالكل حقه ده او تاسو (الله) دَ ګير دَ راوستو نه عاجزه كولے نه شئ. او كه دَ قيامت په

ظَلَمَتْ مَا فِى الْاَرْضِ لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ

كوم چه ظلم وكړو | څه چه په زمكه كښے دى | نو خامخا به په فديه كښے دركړى دا | او دوى به پټوى | پښيمانى

ورځ، يو ظالم سره دَ ټولے دُنيا ټول مال موجود وى نو هم به ئے دَ ځان په فديه كښے وركړى او هركله چه عذاب

لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ

هركله چه | دوى وُوينى | عذاب | او فيصله به وكړے شى | دَ دوى په مينځ كښے | په انصاف سره | او په دوى

ووينى نو پټ په زړه كښے به پښيمانه شى او دَ هغوى ترمينځه به په انصاف فيصله وكړے شى، او په دوى

لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٥٤﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

به ظلم نه شى كولے | واورئ! | بيشكه دَ الله دى | څه چه | په آسمانونو | او زمكه كښے دى

به هيڅ زياتے نه شى كولے. ياد لرئ هر څه چه په آسمانونو او زمكه كښے دى هغه ټول دَ الله تعالىٰ دى

اَلَآ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾

واورئ! بيشكه | وعده | دَ الله | رښتيا (ده) | ليكن | اكثر دَ دوى | نه پوهيږى.

ياد ساتئ چه دَ الله تعالىٰ وعده رښتيا ده، خو اكثر خلق نه پوهيږى.

هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٦﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

دے ژوندى كوى | او مړه كوى | او هم دَ ده طرف ته | به تاسو واپس كيږئ | اے خلقو!

هم هغه ژوند وركوى او هم هغه مرګ وركوى او هم دَ هغه طرف ته تاسو له واپس تلل دى. اے خلقو

قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ

راغلې دے تاسو ته | نصیحت | ستاسو د رب طرف نه | او شفا | د هغه څه | چه په سینو کښې دی

تاسو ته د خپل رب د طرف نه نصیحت راغلې دے ، او د سینو د بیمارو علاج دے

وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ

او هدایت | او رحمت | مؤمنانو د پاره | ووایه | په فضل د الله | او په رحمت د دهٔ

او شوک یٔ چه مؤمنی د هغوی په حقله هدایت او رحمت دے (اے پیغمبره!) ووایه (چه دا قرآن فضل او رحمت دے) نو د الله په

فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿٥٨﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ

پس په دے | پکار دی چه خوشحاله شی دوی | دا چیره ښهٔ دے | له هغه څه نه | چه دوی یې جمع کوی | ووایه | آیا ویلی تاسو

فضل او رحمت بانډې دوی له خوشحالید ل پکار دی دا د هغه تولو څیزونو نه بهتر دی کوم چه تاسو جمع کوئ دوی ته ووایه

مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا

هغه څه چه نازل کړو | الله | تاسو د پاره | رزق | بیا جوړ کړو تاسو | په دے کښې | (څه) حرام

دا خو وښایئ چه الله تعالیٰ تاسو له کوم رزق رالیږلے دے ، نو تاسو (د ځان نه) په هغے کښې څهٔ حرام او څهٔ

وَّحَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿٥٩﴾

او (څهٔ) حلال | ووایه | آیا الله | حکم کړے دے | تاسو ته | یا | په الله بانډې | تاسو دروغ تړئ.

حلال کړو ، دوی نه تپوس وکړه چه آیا الله تعالیٰ تاسو ته د دے اجازت درکړے دے یا تاسو په الله تعالیٰ بانډې دروغ تړئ.

وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

او څهٔ گمان دے | د هغو خلقو | چه تړی | په الله بانډې | دروغ | د قیامت د ورځې (په حقله)؟

او هغه خلق چه په الله تعالیٰ بانډې دروغ تړی د هغوی د قیامت د ورځے په حقله څهٔ گمان دے؟

اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦٠﴾ ع ٦ / ١١

بیشکه الله | د لوئے فضل خاوند دے | په خلقو | او لیکن | ډیرله دوی نه | شکر نهٔ کوی.

بیشکه الله تعالیٰ په خلقو بانډې ډیر مهربان دے خو اکثر خلق ناشکره دی.

وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا تَعْمَلُوْنَ

او نهٔ | یې ته | په هیڅ حال کښې | او نهٔ لولے ته | څهٔ | له قرآن نه | او نهٔ کوئ تاسو

او (اے پیغمبره!) ته په هر حال کښې چه یې او په هغه (حال) کښې (هم) چه قرآن لولے او (اے خلقو!) تاسو هم

مِنْ عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ وَمَا

څهٔ عمل | مگر یو موږ | په تاسو بانډې | خبردار | هر کله چه تاسو مشغولیږئ | په هغے کښې | او نهٔ

چه څهٔ کار کوئ نو په هر حال کښې موږ تاسو وینو کورو څه وخت چه تاسو په هغه کار کښې اخته یئ ، او ستا

يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ

پټیږی | ستا د رب نه | په اندازه د یوے ذرے | په زمکه کښې | او نهٔ په آسمان کښې

د رب نه پوهے قدر له څیز هم پټ پاتے کیدے نهٔ شی په زمکه کښې او نهٔ په آسمان کښې

وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِى كِتَـٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦١﴾ أَلَآ

اونهٔ | ډیرو وړوکے | له دے نه | او نهٔ | ډیر لوئے | مګر | (هغه ټول) په کتاب واضح کښے | یاد ساته

اونهٔ د هغے نه وړوکې او نهٔ لوئے داټول په یو واضح کتاب (لوح محفوظ) کښے درج پراتهٔ دي. واورئ

إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ٱلَّذِينَ

بیشکه | دوستان د الله | نشته ډک (څه) ویره | په دوی | او نه به دوی | غمژن وي | هغو کسانو چه

چه د الله تعالی په دوستانو نهٔ ویره راځی او نهٔ چرے غمژن کیږی ـ داهغه کسان دی

ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا

ایمان ئے راوړو | او دوی | پرهیزګاری وکړه | دوی له | زیرے دے | په ژوندن د دنیا کښے

چه ایمان ئے راوړو او پرهیزګاری ئے اختیار کړه ، د دوی د پاره د دُنیا په ژوندن کښے او په آخرت کښے

وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَـٰتِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ

او په آخرت کښے | نشته ډک څه بدلون | د الله خبرو له | هم دا ده | کامیابي

خوشخبری ده ، د الله تعالی خبرے نهٔ بدلیږی ، هم دغه لویه کامیابي

ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٤﴾ وَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۚ هُوَ

لویه | او غمژن دِ نهٔ کړی تا | خبرے د دوی | بیشکه | عزت | الله لره ده | ټول | هم ډک ده

ده ، او (اے پیغمبره!) د دوی (کافرو) خبرے دِ تا نهٔ غمژن کوی بیشکه ټول غلبه الله تعالی د پاره ده ، هغه

ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَن

آوریدونکے | پوهه | یاد ساتئ | بیشکه | د الله دی | څهٔ چه | په آسمانونو کښے | او څهٔ چه

هرڅهٔ آوری ډیر ښهٔ پوهه دے ـ واورئ چه داټول د الله تعالی دی هرڅهٔ چه په آسمانونو او په زمکه

فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَ ۚ

په زمکه کښے دی | او پیروی نهٔ کوی | هغه خلق چه | آوازونه کوی | الله نه سوا | د شریکانو ؟

کښے موجود دی. او کوم خلق چه د الله تعالی نه سوا نورو (د ځان نه جوړ کړو) شریکانو ته آوازونه کوی

إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٦٦﴾ هُوَ

نهٔ | کوی پیروی دوی | مګر | د وهم | او نهٔ دی دوی | مګر | دروغژن | هم دے ډک

(خبر یئ چه) هغوی په څهٔ پسے روان دی هغوی محض په ګمان پسے روان دی او صرف اټکلونه لګوی. الله تعالی

ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ

چا چه | جوړه کړه | تاسو د پاره | شپه | چه تاسو آرام وکړئ | په هغے کښے | او ورځ | روښانه | بیشکه

هغه ذات دے چه شپه ئے درله جوړه کړے ده چه آرام پکښے وکړئ او ورځ ئے روښانه جوړه کړے ده چه لیدل پکښے کولے

فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ۗ

په دے کښے | نخښے دی | هغه قوم د پاره | چه آوری | دوی وائی | نیولے دے الله | ځوئے

شئ. بیشکه چه په دے کښے د (پیغمبر د خبرو) آوریدونکو د پاره دلیلونه موجود دی. دوی وائی چه الله ځان له ځوئے نیولے دے

وقف لازم

سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِیُّ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ

هغه پاک دے | هغه بے نیازه دے | د هغه دی | څه چه | په آسمانونو کښے | او څه چه | په زمکه کښے دی

الله تعالیٰ پاک دے، هغه غنی دے، هر څه چه په آسمانونو او په زمکه کښے دی ټول د هغه (ملکیت) دی

اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍۢ بِهٰذَا ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

نشته دے | تاسو سره | هیڅ دلیل | د دے | آیا وایئ تاسو | په الله باندې

تاسو سره (د شرک) په دے خبره هیڅ دلیل هم نشته، نو آیا تاسو په الله تعالیٰ باندې داسے خبرے

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝۶۸ قُلْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

هغه څه چه نه پوهیږئ | ووایه | بیشکه کوم خلق چه | تړی | په الله باندې | دروغ

تړئ چه خپله ترې نه خبر هم نه یئ. ووایه چه څوک په الله تعالیٰ باندې دروغ تړی یقیناً هغوی

لَا یُفْلِحُوْنَ ۝۶۹ مَتَاعٌ فِی الدُّنْیَا ثُمَّ اِلَیْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ

هغوی به خلاصی نه بیامومی | لږه فائده ده | په دنیا کښے | بیا | زمونږ طرف ته دی | واپس راتلل د دوی | بیا

خلاصیدے نه شی. په دنیا کښے لږ ساعت مزے دِ وکړی، بیا هم زمونږ طرف ته د دوی واپسی ده، نو

نُذِیْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِیْدَ بِمَا كَانُوْا یَكْفُرُوْنَ ۝۷۰ وَاتْلُ

مونږ به وڅکوو دوی ته | عذاب | سخت | په وجه د هغے | چه دوی به کفر کولو | او واوروه

بیا به مونږ دوی ته د دوی د کفر او انکار په وجه د سخت عذاب مزه وڅکوو (اے پیغمبره!) دوی

عَلَیْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ یٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَیْكُمْ

دوی ته | خبر | د نوح | هر کله چه ووئیل ده | خپل قوم ته | اے زما قومه! | که دی گران | په تاسو

ته د نوح (علیه السلام) حالات واوروه، هرکله چه ده خپل قوم ته ووئیل چه اے زما قومه! که په تاسو باندې دلته

مَّقَامِیْ وَتَذْكِیْرِیْ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَاَجْمِعُوْۤا

زما اوسیدل | او زما نصیحت کول | په آیتونو د الله | نو په الله باندې | ما توکل کړے دے | پس یو ځائے کړئ

زما استوګنه او د الله د حکمونو په ذریعه زما نصیحت ګران وی، نو زما په خپل الله باندې توکل دے نو تاسو د خپلو

اَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا یَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَیْكُمْ غُمَّةً

خپله معامله | د خپلو شریکانو سره | بیا | نه دِ وی | ستاسو معامله | په تاسو باندې | پټه

(جوړه وکړه و) شریکانو سره خپله فیصله وکړئ (چه) بیا تاسو ته په خپله خبره باندې څه شک پاتے نه شی

ثُمَّ اقْضُوْۤا اِلَیَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ۝۷۱ فَاِنْ تَوَلَّیْتُمْ فَمَا سَاَلْتُكُمْ

بیا | وکړئ | ما سره (څه چه کوئ) | او ماله مهلت مه راکوئ | پس که چرے | تاسو مخ واړولو | نو ما نه دے غوښتے تاسو نه

بیا ما سره خپله خوښه وکړئ او هیڅ مهلت مه راکوئ، بیا که تاسو (زما د نصیحت نه) مخ واړولو نو زه څه پروا

مِّنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ

څه اجر | نشته دے | زما اجر | مګر | په الله | او ما ته حکم شوے دے | چه زه شم

نه کوم، ما خو تاسو نه څه معاوضه نه ده غوښتے، زما معاوضه خو صرف د الله په ذمه ده او ما ته حکم شوے دے چه زه

ع ۱۲ وقف لازم

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٧٢﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَنَجَّيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ

له فرمانبردارو نه | پس دوی دروغ وګڼلو دے | نو خلاص ورکړو مونږ دهٔ ته | او هغه چا ته چه | د دهٔ سره وو

په فرمانبردارو کښے شامل شم. بیا دوی هغه دروغجن وګڼلو بیا مونږ هغه او کوم چه هغهٔ سره په کشتئ کښے

فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

په کشتئ کښے | او جوړ کړل مونږ دوی | جانشین | او غرق کړل مونږ | هغه خلق چه | دروغ ئے ګڼلی وو

وو بچ کړل او دوی مو (په زمکه کښے) جانشین جوړ کړل او کوم خلقو چه زمونږ آیتونه دروغ ګڼلی وو

بِاٰيٰتِنَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا

زمونږ آیتونه | پس وګوره | چه څنګه شو | انجام | د ویرولو شوو | بیا راولیږل مونږ

هغه مو غرق کړل پس وګورئ چه د هغو خلقو څهٔ انجام شو، کوم چه ویرولے شوی وو. بیا مو د هغهٔ نه

مِنْۢ بَعْدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا

پس له دهٔ نه | پیغمبران | د دوی د قوم طرف ته | پس دوی راوړے هغوی ته | روښانه نخښے | پس دوی دا نه وو

پس نور پیغمبران خپلو خپلو قومونو ته ولیږل، نو هغوی ورته ښکاره دلیلونه یوړل خو دا اوس نه شوه

لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِ

چه ایمان ئے راوړے وے | په هغه څه | چه دوی دروغ ګڼلی وو هغه | وړاندې | دغه شان | مونږ مهر لګوو | په زړونو

چه په هغه څه ایمان راوړے وے کوم چه ئے وړاندې دروغ ګڼلی وو. مونږ دغه شان د سرکشانو په زړونو باندې

الْمُعْتَدِيْنَ ﴿٧٤﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى وَهٰرُوْنَ اِلٰى فِرْعَوْنَ

د حد نه د تیریدونکو | بیا راولیږل مونږ | پس له دوی نه | موسیٰ | او هارون | طرف د فرعون

تاپه لګوو. بیا مونږ د دے (پیغمبرانو) نه پس موسیٰ او هارون علیهما السلام دواړه فرعون او د هغهٔ

وَمَلَا۟ئِهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿٧٥﴾

او د دهٔ د سردارانو ته | په خپلو نخښو سره | نو دوی غرور وکړو | او دوی وو | قوم | ګناهګاران

دربار یانو ته د خپلو نخښو سره ولیږل خو هغوی لوئی وکړه او دغه خلق وو مجرمان.

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا

بیا چه هرکله | راغے دوی ته | حق | زمونږ له طرف نه | دوی ووئیل | بیشکه | دا (خو)

نو هرکله چه ورته زمونږ د طرف نه حق ورغے، نو هغوی ووئیل چه دا خو ښکاره

لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧٦﴾ قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ؕ

جادو دے | ښکاره | ووئیل | موسیٰ | آیا تاسو وایئ دا | د حق په باره | هرکله چه هغه راغے تاسو ته

جادو دے. موسیٰ علیه السلام ووئیل چه آیا تاسو د حق په حقله داوایئ هرکله چه هغه تاسو ته راغے

اَسِحْرٌ هٰذَا ؕ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿٧٧﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا

آیا دا جادو دے ؟ | او نهٔ کامیابیږی | جادوګر | دوی ووئیل | آیا ته راغلے ئے مونږ ته

دے چه دا جادو دے؟ حال دا دے چه جادوګر هیڅکله نهٔ کامیابیږی. هغوی ووئیل چه آیا ته مونږ

لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا وَتَكُوْنَ لَكُمَا

تاسو دواړو له | او دی | خپل پلارنیکه | په هغې | چه موندلي دي مونږ | له هغه څه نه | چه ته واړوې مونږ

ته دې د دې دپاره راغلي یې چه ته مونږ د هغې لارې نه بل خوا واړوې په کومه چه مونږ خپل پلارنیکه موندلي دي، او چه د ملک

الْكِبْرِيَآءُ فِي الْاَرْضِ ؕ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ وَقَالَ

سرداري | په زمکه کښې | او نه یو مونږ | تاسو دواړه | منونکي | او ووئیل

مشري ستاسو د دواړو په لاس راشي، او مونږ خو تاسو دواړه هیچرې نه منو. او فرعون (خپلو سرو

فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِيْ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ

فرعون | راولئ ماته | هر جادوگر | هوښیار | پس هر کله چه راغلل | جادوگران

ته) ووئیل چه ماله ټول ماهر جادوگر راولئ. نو هر کله چه جادوگر راغلل نو

قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰۤى اَلْقُوْا مَاۤ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿۸۰﴾ فَلَمَّاۤ اَلْقَوْا

ووئیل | دوی ته | موسیٰ | د غورزوئ | هغه څه چه تاسو غورزونکي یئ | بیا هر کله چه | دوی وغورزول

موسیٰ علیه السلام ورته ووئیل څه چه اچول غواړئ هغه رامیدان ته کړئ. بیا هر کله چه هغوی (خپل پړی)

قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ ۙ السِّحْرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ؕ

نو ووئیل | موسیٰ | څه چه تاسو راوړي دي | (هغه) جادو دے | بیشکه الله | به هغه اوس باطله (بې کاره) کړي

او کوتلې) وغورزول نو موسیٰ علیه السلام ووئیل چه تاسو څه راوړي دي هغه جادو دے. الله تعالیٰ به دا ډیر زر فنا کړي

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ

بیشکه الله | نه سموي | کار | د مفسدانو | او حق به (ثابت) کړي | الله | حق

بیشکه الله تعالیٰ د فسادیانو کار له سمون نه ورکوي. او الله تعالیٰ د خپلې وعدې مطابق حق

بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَمَاۤ اٰمَنَ لِمُوْسٰۤى اِلَّا ع ۸ ۱۲ ۱۳

په خپل حکم سره | اګرکه | نه ئې خوښوي | مجرمان خلق | پس ایمان رانه وړو | په موسیٰ | مګر

رښتینې کوي اګرکه د مجرمانو ناخوښه وي. پس د فرعون او د ده د سردارانو د ویرې

ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ

یو سو ځوانانو | له قوم د ده نه | په ویره | له فرعون نه | او له سردارانو د دوی نه | چه

نه د موسیٰ علیه السلام د قوم د یو څو کسانو نه سوا چا هم په ده ایمان رانه وړو چه چرته په مصیبت

يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ

عذاب به کړي دوی | او بیشکه | فرعون (وو) | زور آور | په زمکه کښې | او بیشکه دے (وو)

کښې ئې اخته نه کړي. او بیشکه چه فرعون په ملک کښې ډیر زور آور وو، او هغه به ډیر

لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۸۳﴾ وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ

له حد نه تیریدونکو | او ووئیل | موسیٰ | اے زما قومه! | که چرې تاسو | ایمان راوړے دی

زیاتے کولو. او موسیٰ علیه السلام ووئیل چه اے زما قومه! که تاسو په (رښتیا) په خدائے

بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ

په الله | نو هم په هغهٔ باندې | توکل کوئ | که چرې يئ تاسو | فرمانبردار | پس دوی وويل | په الله باندې

ايمان راوړے وی نو په هغهٔ باندې تکيه وساتئ که تاسو فرمانبردار يئ . نو هغوی جواب ورکړو چه زمونږ په

تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا

توکل وکړو مونږ | اے زمونږه ربه! | مهٔ جوړوه مونږ | فتنه | دَ پاره دَ قوم | دَ ظالمانو | او خلاص ساتے کړه مونږ

الله تعالیٰ توکل دے اے زمونږ ربه! مونږه دَ ظالمانو په لاس کښے فتنه مهٔ ګرځوه او په خپل رحمت مونږ دَ

بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى

په خپل رحمت سره | له قوم دَ کافرانو نه | او مونږ وحی وکړه | موسیٰ ته

کافرانو دَ ظلم نه بچ کړه . او مونږ موسیٰ او دَ هغهٔ ورور ته وحی

وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا وَّاجْعَلُوْا

او دَ دهٔ ورور ته | چه | تاسو جوړ کړئ | دَ خپل قوم دَ پاره | په مصر کښے | کورونه | او جوړ کړئ

وکړه ، تاسو دَ خپل قوم دَ پاره په مصر کښے کورونه قائم وساتئ ، او خپل کورونه

بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَقَالَ

خپل کورونه | دَ عبادت ځایونه | او قائم کړئ | مونځ | او زيرے ورکړه | مؤمنانو ته | او وويل

دَ مونځ ځایونه کړئ ، او دَ مونځ پابندی ساتئ او ته مؤمنانو له زيرے ورکړه او موسیٰ علیه السلام

مُوْسٰى رَبَّنَآ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً وَّ

موسیٰ | اے زمونږه ربه! | بیشکه تا ورکړے دے | فرعون | او دَ دهٔ سردارانو ته | زينت | او

وويل اے زمونږه ربه! تا فرعون له او دَ هغهٔ سردارانو له دَ ښائست سامانونه او ډیر مالونه

اَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ۚ

دولت | په ژوند دَ دنيا کښے | اے زمونږه ربه! | چه دوی ګمراه کړی (خلق) | ستا دَ لارے نه

په دے دُنيا ورکړی دی (نتيجه ئے دا چه) اے زمونږ ربه! هغوی ستا دَ لارے نه خلق ګمراه کوی ،

رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

اے زمونږه ربه! | فنا کړه | مالونه دَ دوی | او سخت کړه | زړونه دَ دوی

اے زمونږ ربه! دَ دوی مال او دولت برباد کړه ، او دَ دوی زړونه سخت کړه ،

فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٨٨﴾ قَالَ قَدْ

چه دوی ايمان رانهٔ وړی | تر دے چه | دوی وګوری | عذاب | دردناک | الله وفرمايل | يقيناً

چه هیچرے ايمان رانهٔ وړی ، تر دے چه دردناک عذاب ووينی . الله تعالیٰ ورته وفرمائيل

اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيْمَا وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ

قبوله کړے شوه | ستاسو دُعا | پس تاسو دواړه ثابت قدم وسیږئ | او تابعداری مهٔ کوئ | دَ لارے | دَ هغو خلقو

چه ستاسو دُعا قبوله شوه نو په خپله لاره قائم وسیږئ او دَ هغه چا په لاس مهٔ ځئ چه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ

چه علم نه لري | او پورې ويستل موږ | بني اسرائيل | د دریاب نه | پس دوی پسې شو

نه پوهيږي . او موږ بني اسرائيل د سمندر نه پورې ويستل ، نو فرعون او د هغه

فِرْعَوْنُ وَجُنُوْدُهٗ بَغْيًا وَّعَدْوًا ۭ حَتّٰٓي اِذَآ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ ۙ

فرعون | او د ده لښکرې | په ظلم | او زياتي سره | تر دې چه | هرکله | دې په ډوبيدو شو

لښکرو نه هم د ظلم او د زياتي په غرض ورپسې روان شول ، تر دې چه هغه په ډوبيدو شو نو

قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا

نو دې وويل | ما يقين وکړو | چه نشته دې | (څوک) معبود | سوا | د هغه ذات نه | چه ايمان راوړی دې په هغه | بني

دې وويل چه زه ايمان راوړم چه د هغه ذات نه سوا بل معبود نشته په کوم چه بني اسرائيلو ايمان

اِسْرَآءِيْلَ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ اٰۗلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ

اسرائيلو | او زه | له فرمانبردارانو يم | آيا اوس (ايمان راوړې) | حال دا چه تا نافرماني کړې ده

راوړې دې او زه په مسلمانانو کښې شامليږم . (ورته فرمائيل) اوس (ايمان راوړې)؟ حال دا دې چه له

قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٩١﴾ فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ

وړاندې له دې نه | او ته وې | له فساد کوونکو نه | پس نن به | موږ نجات درکړو | ستا بدن ته

دې نه وړاندې تا نافرماني کړې ده او ته له فساد کوونکو نه يې . پس نن به موږ ستا بدن بچ کړو

لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ

چه ته شې | هغه چا د پاره | چه تا نه وروستو راتلونکي دي | نخښه | او بيشکه | ډير | له خلقو نه

چه ته د راتلونکو نسلونو د پاره (د عبرت) نخښه شې او واقعي ډير خلق زموږ د نخښو نه

عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَلَقَدْ بَوَّاْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مُبَوَّاَ صِدْقٍ ع ٩ ١٠ ١۴

زموږ له آيتونو نه | بې خبره دي | او بيشکه | ځای ورکړو موږ | بني اسرائيلو ته | ځای ښه

بې خبره دي . او بيشکه موږ بني اسرائيلو له په زمکه ډير ښه ځای ورکړو

وَّرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْا حَتّٰى جَاۗءَهُمُ

او موږ روزي ورکړې دوی ته | له پاکيزه څيزونو | پس دوی اختلاف ونه کړو | تر دې چه | راغی دوی ته

او موږ دوی له پاکيزه څيزونو نه رزق ورکړو ، نو دوی (يو بل سره) اختلاف ونه کړو ، تر دې چه دوی ته

الْعِلْمُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ

علم | بيشکه ستا رب به | فيصله وکړي | د دوی ترمينځه | په ورځ د قيامت | په هغه خبرو کښې | په کومو کښې چه دوی

(د حق) علم راغی . بيشکه ستا رب به د قيامت په ورځ د دوی ترمينځه فيصله وکړي په هغه خبرو کښې په کومو

يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ

اختلاف کولو | پس که چرې ته يې | په شک کښې | له هغه (کتاب) نه | چه نازل کړو موږ | ستا طرف ته

کښې چه دوی اختلاف کولو . که چرې تا ته په هغه خبرو کښې کومې چه موږ په تا نازلې کړې دي څه شک وي نو

فَسْـَٔلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ

نو پوښتنه وکړه | د هغه خلقو نه | چه لولی | کتاب | وړاندې له تا نه | بیشکه راغلے دے تا ته | حق (قرآن)

د هغه چا نه پوښتنه وکړه چه له تا نه وړاندې کتابونه ئے لوستل . بیشکه تا ته د خپل پروردګار د طرف نه

مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ

ستا د رب له طرف نه | پس مه کیږه ته | له شک کوونکو نه | او مه کیږه ته | له هغو خلقو نه

حق راغلے دے ، نو هرګز په شکمنو خلقو کښې مه شاملیږه او په هغه خلقو کښې هم ځان مه ګډوه

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوْنَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٩٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

چه دروغ ئے وګڼل | د الله آیتونه | پس ته به شے | له نقصان موندونکو نه | بیشکه | هغه خلق چه

چه د الله تعالیٰ نخښې دروغ ګڼړی ، ګنی تاوانی به شے . بیشکه د چا په حقله چه ستا

حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ

ثابت شو | په هغوی باندې | حکم | ستا د رب | ایمان نه راوړی | اوکه څه هم | راشی دوی ته

د رب خبره ثابته شوے ده هغوی ایمان نه راوړی . اګرکه هر قسم نخښې ورته

كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٩٧﴾ فَلَوْلَا

ټولے معجزې | ترڅو چه | دوی وګوری | عذاب | دردناک | پس ولے نه

راشی . ترڅو چه دردناک عذاب ونه وینی . نو دا ولے (مثال نشته) چه یو

كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ

شو | یو کلے | چه ایمان ئے راوړے وے | نو نفع ئے رسولے وے ته | د دے ایمان | سوا | د قوم

کلی د عذاب لیدو نه پس ایمان راوړے وی او خپل ایمان ورته نفع ورکړی وی بغیر د یونس علیه السلام د

يُوْنُسَ ؕ لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ

د یونس نه | هر کله چه دوی ایمان راوړو | (نو) مونږ لرے کړو | له دوی | عذاب | د ذلت

قوم نه ، هر کله چه هغوی ایمان راوړو ، نو مونږ ترے نه شرمونکے عذاب په دے دنیا کښې لرے

فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٩٨﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

په ژوند د دنیا کښې | او مونږ نفع ورسوله دوی ته | ترڅه موده پورے | او که چرے غوښتے | ستا رب

کړو ، او دوی ته مو تر یو مودے پورے نفع ورسوله . اوکه ستا رب غوښتلے نو خامخا

لَاٰمَنَ مَنْ فِى الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ

نو ایمان به راوړے | هغه چا چه په زمکه کښې دی | ټول په جمع | پس آیا ته | به مجبوره کړے

خلق چه په مخ د زمکے دی ټول به ایمان راوړے وو ، نو آیا ته خلق په دے مجبوره کوے

النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٩٩﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ

خلق | ترڅو چه | دوی شی | مؤمنان | او نشته د طاقت | یو نفس له

ترڅو چه دوی ایمان راوړی . او هیڅوک دا نه شی کولے

اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ

چه هغه ايمان راوړي | مگر | په حكم دالله | او هغه غورزوي | ناپاكي | په هغو خلقو چه

چه ايمان راوړي مگر د الله تعالىٰ په حكم سره ، او الله تعالىٰ پليدي په هغه چا ورغورزوي چه د

لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٠٠﴾ قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

نه پوهيږي | ووايه | وگورئ | څه څيزونه دي | په آسمانونو كښې | او په زمكه كښې

عقل نه كار نه اخلي . ورته ووايه چه لږ وگورئ په آسمانونو او په زمكه كښې څه څه څيزونه موجود دي

وَمَا تُغْنِى الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠١﴾

او په كار نه راځي | نخښې | او ويرې | هغو خلقو ته | چه ايمان نه راوړي

او (د دنيا) هغوي نخښې او هغوي ويرې هغه خلقو له هيڅ فائده نه وركوي كوم چه ايمان راوړل نه غواړي -

فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا

پس دوي انتظار نه كوي | مگر | په شان | د ورځو | د هغو خلقو | چه تير شوي دي

نو آيا اوس دوي د هغسې ورځو انتظار كوي كومې چه له دوي نه په

مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّىْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿١٠٢﴾

وړاندې له دوي نه | ووايه | پس انتظار كوئ | بيشكه زه (هم) | تاسو سره | له انتظار كوونكو نه يم

وړاندې پيښو خلقو راغلې وې . ورته ووايه چه ښه ده تاسو هم انتظار كوئ او زه هم تاسو سره انتظار كوم -

ثُمَّ نُنَجِّىْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا

بيا | موږ خلاصي وركوو | خپلو پيغمبرانو ته | او هغو خلقو ته | چه ايمان ئې راوړې دې | د غه شان | حق دے

نو بيا به (د عذاب په وخت كښې) موږ خپل پيغمبران او (نور) مؤمنان بچ كړو ، هم د غسې زموږ ذمه واري

عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٣﴾ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ ع ١١ ١٥

په موږ باندې | چه موږ بچ كړو | د ايمان خاوندان | ووايه | اے | خلقو!

ده چه مؤمنان به بچ كړو - (اے پيغمبره!) ووايه چه اے خلقو! كه

اِنْ كُنْتُمْ فِىْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِىْ فَلَآ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ

كه چرے تاسو يئ | په شك كښې | له دين زمانه | نو زه عبادت نه كوم | د هغو

اوس هم زما د دين په حقله ستاسو څه شك پاتې دي ، نو زه د هغې معبودانو عبادت نه كوم چه

تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِىْ

د كومو چه تاسو عبادت كوئ | سوا د الله نه | ليكن | زه عبادت كوم | صرف د هغه الله

تاسو ئې بغير د خدائے نه عبادت كوئ ، بلكه زه خو د هغه الله عبادت كوم چه ستاسو ژوند او

يَتَوَفّٰىكُمْ ۚ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٤﴾ وَاَنْ اَقِمْ

چه مرگ دركوي تاسو ته | او ماته حكم شوے دے | چه | يم زه | د ايمان والو نه | او دا چه | نيغ كړه

مرگ د هغه په قبضه كښې دے او ماته حكم شوے دے چه په مؤمنانو كښې د شامل يم او دا حكم ئې راكړے دے چه

وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۚ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٠٥﴾

مخ خپل | دين | حنيف ته | او مه کيږه ته | له مشرکانو نه

خپل ځان د دين غاړے ته يو مخيز کړه ، او په مشرکانو کښے مه شامليږه .

وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَاِنْ فَعَلْتَ

او مه بلله | د الله نه سوا (بل څوک) | چه نه نفع دررسوي تا ته | او نه نقصان دررسوي تا ته | کۀ ته داسے وکړے

او د الله تعالىٰ نه سوا د هغه چا نه دُعا مه غواړه چه نه نفع درکولے شي او نه ضرر درکولے شي ، کۀ

فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٦﴾ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ

نو بيشکه ته به | هغه وخت کښے | له ظالمانو نه | او کۀ چرے دررسوي تا ته الله | (څۀ) تکليف

داسے دے وکړل نو په ظالمانو کښے به شمېرشے . او کۀ الله تعالىٰ درته تکليف دررسوي نو بيا د

فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ

نو نشته څوک لرے کوونکے | د هغه | سوا د هغه نه | او کۀ چرے | هغه رسول غواړي تا ته | (څۀ) ښيګړه

هغه نه بل څوک ئے لرے کولے نۀ شي ، او کۀ هغه درته خير رسول غواړي نو د هغه فضل

فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ؕ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ

نو نشته څوک دفع کوونکے | د هغه د فضل | رسوي | دا (فضل) | چا ته چه غواړي | له خپلو بندګانو

هيڅوک رد کولے نۀ شي . د هغه چه په کومو بندګانو مرضي وشي نو فضل پرے کوي .

وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٠٧﴾ قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ

او دے | بخښونکے | مهربان دے | ووايه | اے | خلقو | راغلے دے تاسو ته

او هغه بخښونکے رحم کوونکے دے . ووايه چه اے خلقو ! تاسو ته د خپل رب د طرف

الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ

حق (قرآن) | ستاسو د رب له طرف نه | پس څوک چه | په نيغه لاره راشي | پس بيشکه هغه په سمه لاره راځي | خپل ځان د پاره

نه حق رارسيدلے دے . نو څوک چه په سمه لار روان شو نو د خپل ځان د پاره روان شو .

وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ

او څوک چه | بے لارے شو | نو بيشکه هغه بے لارے کيږي | خپل ځان د پاره | او نۀ يم | زۀ | په تاسو باندې

او څوک چه ګمراه شو نو وبال ئے په خپل ځان شو ، او زۀ ستاسو څۀ ذمه وار خو نۀ

بِوَكِيْلٍ ﴿١٠٨﴾ وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰۤى اِلَيْكَ وَاصْبِرْ

نګهبان . | او پيروي کوه ته | د هغه څۀ | چه وحي ئے کولے شي | تا ته | او صبر کوه

يم . او په هغه وحي عمل کوه کومه چه تا ته راځي او صبر کوه

حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ ع ١١ ١٦

ترڅو چه | فيصله وکړي | الله | او دے | د ټولو نه ښۀ | فيصله کوونکے دے

ترڅو چه الله تعالىٰ فيصله وکړي . او هغه ډير ښۀ فيصله کوونکے دے .

سُوْرَةُ هُوْدٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَلٰثٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّعَشْرُ رُكُوْعًا

سورة هود مکي ده او پکښې | (شروع) د الله په نوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکی دی | ۱۲۳ آیتونه او ۱۰ رکوع ګانې دي

شروع کوم د الله په نوم سره چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

الٓرٰ قف كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ

الف لام را | (دا) کتاب دے | چه محکم کړے شول | آیتونه د دے | بیا په تفصیل سره بیان کړے شول | له طرفه | د حکمت والا

(قرآن) یو داسے کتاب دے چه آیتونه ئے (په دلائلو سره) مضبوط دي، او بیا دا چه په راڼستي بیان شوي دي

خَبِيْرٍ ۝١ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنَّنِيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ

خبردار | چه عبادت مه کوئ | سوا د الله نه | بیشکه زه | تاسو لپاره | د هغه له طرفه | ویروونکے

د یو حکیم باخبره د طرف نه، دا چه د الله نه سوا د بل چا عبادت مه کوئ. زه د هغه د طرف نه تاسو د پاره ویروونکے

وَّبَشِيْرٌ ۝٢ وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ

او زیرے ورکوونکے یم | او دا چه | بخښنه وغواړئ | د خپل رب نه | بیا | توبه وکړئ | د هغه په حضور کښې

او تاسو ته زیرے ورکوونکے یم، او دا چه د خپل رب نه بخښنه غواړئ، بیا هغه ته ځان رجوع سا تئ

يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ

هغه به درکړي تاسو ته | سامان (د ژوند) | (ډیر) ښه | یو مقرر وخت پورے | او | وربه کړي

هغه به درله (د ژوندون) ښکلے سازوسامان تر یو مقرر وخته درکوي او (په آخرت کښې)

كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ؕ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ

هر | خاوند د بزرګئ ته | د هغه بزرګي | او که چرته تاسو مخ واړوئ | نو بیشکه زه | ویریږم

زیات ښه عمل کوونکو ته به زیات ثواب ورکړي، او که چرے تاسو (د الله تعالیٰ نه) مخ واړوئ نو بیشکه

عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ۝٣ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ ۚ وَهُوَ

په تاسو | د یوے لوئے ورځے د عذاب نه | هم د الله طرف ته | تاسو له واپس تلل دي | او هغه

زه په تاسو بانې د یوے لوئے ورځے د عذاب نه ویریږم. هم د الله تعالیٰ طرف ته ستاسو واپسي ده، او هغه

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٤ اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ

په هر څیز بانې | قادر دے | واوره ! | بیشکه دوی | راغبرګوي | خپلے سینے

په هر څه پوره پوره قدرت لري. واوره ! دوی خپلے سینے تاووي چه د الله تعالیٰ

لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ ؕ اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ ۙ يَعْلَمُ

چه پټ شي دوي | له هغه نه | واوره ! | څه وخت | چه دوی اغوندي | جامے خپلے | (الله) پوهیږي

نه پټ شي. واوره ! چه دوی څه وخت په ځان جامے راواچوي نو الله تعالیٰ ته هغه

مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝٥

په هغه څه | چه دوي پټوي | او په هغه څه | چه ښکاره کوي دوی | بیشکه هغه | پوهیږي | په رازونو | د سینو

هر څه معلوم دي کوم چه دوی پټوي او کوم چه څرګندوي هغه د زړونو په رازونو (هم) ښه خبردار دے.

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعليم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

الجزء ١٢

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ

او نه دے هیڅ | تلونکے (ساه دار) | په زمکه کښے | مګر | په الله ده | روزی د هغې | او پیژنی

او د زمکے په مخ تلونکے هیڅ جاندار داسے نشته چه د هغه روزی د الله تعالیٰ په ذمه نه وی، او هغه ته

مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٦﴾ وَهُوَ

د ده د تیکاؤ ځایه | او د ده د ساتنے ځائے | هر څه | په کتاب | روښانه کښے دی | او هم هغه دے

د هر یو تن د ژوند ځائے او د لړے استوګنے ځائے معلوم دے دا هر څه په یو واضحه کتاب کښے درج دی او الله تعالیٰ

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّكَانَ عَرْشُهٗ

چا چه | پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه | په شپږو ورځو کښے | او وو | د هغه عرش

هغه ذات دے چه آسمانونه او زمکه ئے په شپږو ورځو کښے پیدا کړل ، او د هغه عرش (حکومت)

عَلَى الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِنْ قُلْتَ

په اوبو باندے | چه و آزمائی تاسو | چه څوک له تاسو نه | ډیر ښه دے | په عمل کښے | او که چرے | ته ووائے

په اوبو قائم وو چه ستاسو ازمینت وکړی چه څوک در کښے د عمل په لحاظ ډیر ښه دے او (اے پیغمبره!) که ته ووائے

اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

چه خامخا به تاسو راوچتولے شئ | پس له مرګ نه | نو ضرور به ووائی | هغه خلق | چه کافران دی

ووائے چه تاسو به د مرګ نه پس بیا راژوندی کیږئ ، نو کافران به خامخا ووائی چه

اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧﴾ وَلَئِنْ اَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ

نه دے | دا | مګر | جادو دے | ښکاره | او که چرے | وروستو کړو مونږ | له دوی نه | عذاب

دا خو ښکاره جادو دے . او که چرے مونږ له دوی نه تر یوے مودے عذاب

اِلٰٓى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ لَّيَقُوْلُنَّ مَا يَحْبِسُهٗ ۗ اَلَا يَوْمَ

تر یوے مودے | شمیرلے شوے | نو ضرور به ووائی دا خلق | څه شے | منع کړو دا | واورئ! | په کومه ورځ چه

وروستو کړو ، نو دوی وائی چه آخر څه شے (دا عذاب) منع کړو، واورئ چه په کومه

يَاْتِيْهِمْ لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا

راشی په دوی باندے هغه (عذاب) | نه دے | به شی واپس کولے | له دوی نه | او راګیر به کړی | دوی | (عذاب)

ورځ (عذاب) راشی نو له دوی نه به بیرته نه شی ګرځولے ، او هغه عذاب به ترے نه راتاؤ شی

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٨﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً

ع ٩

په کوم پورے چه دوی | ټوقے کولے | او که چرے | وڅکوو مونږ | بنیادم ته | د خپل طرف نه | رحمت

په کوم پورے چه به دوی ټوقے کولے او که مونږ یو بنیادم ته د یو نعمت خوند ورکړو

ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ۚ اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ﴿٩﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ

بیا | مونږ واپس واخلو هغه | له هغه نه | بیشکه هغه (شی) | ناامیده | ناشکره | او که چرے | مونږ وڅکوو هغه ته

او بیا ئے ترے نه واپس واخلو نو هغه ناامیده او ناشکره شی ، او که چرے مونږ هغه ته د څه

نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّیْ ؕ

ارام | پس | دَ تکلیف نه | چه رسیدلې وي ده ته | نو ضرور به وائي | لاړل | تکلیفونه | له ما نه

تکلیف رسولو نه پس دَ نعمت مزه وڅکوو ، نو وائي چه تولے سختیانے له ما نه (همیشه دپاره) لرے شوے

اِنَّهٗ لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ﴿١٠﴾ اِلَّا الَّذِیْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ

بیشکه هغه | ډیر خوشحاله | فخر کوونکے دے | مګر | کوم خلق چه | صبر وکړو | او عمل ئے وکړو | نیک

نو (په دا حال کښے) ډیر غاوره او فخر کوونکے وي. مګر هغه خلق چه صبر کوي ، او نیک کارونه کوي

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِیْرٌ ﴿١١﴾ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا

هم دا خلق دي | چه دوئ دپاره | بخښنه ده | او اجر | ډیر لوئے | نو شاید چه ته | پریښودونکے یې | څه هغه څه

دَ هغوي دَ پاره بخښنه هم ده او لوئے اجر هم دے . نو (دوي په دے اُمید کښے دي چه) شاید چه ته دَ (الله

یُوْحٰٓی اِلَیْكَ وَضَآئِقٌۢ بِهٖ صَدْرُكَ اَنْ یَّقُوْلُوْا لَوْلَآ

چه وحی ئې کولے شي | تا ته | او تنګیږي | په هغې | ستا سینه | چه | وائي دوي | ولے نه

دَ) وحی نه څه برخه (دَ دوي دَ خاطره پریږدې) او ستا زړه به په دے تنګیږي چه دوي وائي چه په ده باندې

اُنْزِلَ عَلَیْهِ كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ نَذِیْرٌ ؕ

شوه نازله | په ده باندې | خزانه | یا ولے رانغله | ده سره | فرښته | بیشکه | چه ته | ډیرونکے یې

خزانه ولے راکوزه نه شوه ، یا دا چه یوه فرښته ورسره ولے رانغله ، ته خو بس ویروونکے یې او

وَاللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ وَّكِیْلٌ ﴿١٢﴾ اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ

او الله | په هر څیز باندې | نګهبان دے | یا | دوي وائي | چه ده له ځانه جوړ کړے دے | دوا یه

(وړاندې) الله تعالیٰ دَ هر څیز کارساز دے . آیا (دا خلق) وائي چه (قرآن) ده دَ ځان نه جوړ کړے دے . دوا یه

فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَیٰتٍ وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ

پس راوړئ تاسو | لس | سورتونه | په شان دَ دے | له ځان نه جوړ شوي | او راوبلئ | څوک چه رابللے شئ

چه بیا ده ته نو دَ دے غونډې (یو) لس سورتونه تاسو هم په دروغه (جوړ کړئ او) راوړئ او دَ الله تعالیٰ نه سوا

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿١٣﴾ فَاِلَّمْ یَسْتَجِیْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا

سوا | دَ الله نه | که چرے تاسو یئ | ریښتیني | پس که چرے دوئ جواب درنه کړے نشي | تاسو ته | نو پوهه شئ

چه په چا مو وس بر کیږي هغه راوبلئ که تاسو ریښتیني یئ . نو که دوي دا کار ونه کړے شي نو یقین وکړئ

اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ

چه هغه خو | نازل شوے دے | په علم دَ الله | او دا چه | نشته دے بل معبود | سوا دَ هغه نه | پس آیا | تاسو

چه دا (کتاب) دَ الله په علم (او په قدرت) رالیږلے دے او دا چه بے دَ الله نه بل معبود نشته نو آیا تاسو (اوس هم)

مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٤﴾ مَنْ كَانَ یُرِیْدُ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا وَزِیْنَتَهَا نُوَفِّ

مسلمانان یئ | څوک چه | غواړي | ژوند | دَ دنیا | او دَ دے زینت | نو مونږ پوره ورکوو

نه مسلمانیږئ؟ څوک چه دَ دنیا ژوند او دَ دے رونق غواړي ، نو مونږ ورته دَ

إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُولَٰئِكَ

دوی ته | (بدل لہ) د عملونو د دوی | په دنیا کښې | او دوی | په دے دنیا کښې | کم نهٔ شی ورکولے۔ | دا د له

هغوی عملونه هم په دے دنیا کښې ورپوره کړو او هغوی په دنیا کښې په نقصان کښې نهٔ شی ساتلے، هم دا خلق

الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا

هغه خلق دی | چه نشته دے | دوی له | په آخرت کښې | سوا د اور نه | او برباد شول | څهٔ چه دوی وکړل | په دے کښې

دی د کوم د پاره چه په آخرت کښې د دوزخ د اور نه سوا بل څهٔ نشته او کوم نیک کارونه چه دوی په دنیا کښې

وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ

او باطل دی | څهٔ چه | دوی | کول | آیا څوک چه وی | په یو (واضح) دلیل باندے | د خپل رب د طرف نه

کړی دو ټول ضائع شول او څهٔ چه دوی کول ټول برباد شول . نو آیا څوک چه د خپل رب په واضح دلیل باندے قائم دی

وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا

او لولی دے لره | یو گواه | د هغهٔ له طرف نه | او د دهٔ نه وړاندے (گواه دی) | کتاب | د موسیٰ | چه پیشوا

او دهٔ سره په دے قرآن کښې (معجزانه) شهادت هم وی او له دے نه وړاندے د موسیٰ علیه السلام کتاب د دهٔ پیشوا

وَرَحْمَةً ۚ أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِهِ مِنَ الْأَحْزَابِ

او رحمت وو | هم دا خلق | ایمان راوړی | په دے | او څوک چه | انکار وکړی | د دے | له فرقو نه

او دهٔ د پاره وجه د رحمت وه هم دا خلق په دے (قرآن) باندے ایمان راوړی او کوم ټولے چه د دے نه انکار کوی

فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ ۚ فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ إِنَّهُ الْحَقُّ

پس اور | د دهٔ د وعدے ځائے دے | پس ته مهٔ کیږه | په شک کښې | له دے نه | بیشکه دا (کلام) | حق دے

نو هغوی ته یکا ځائے دوزخ دے نو ته په دے حقله په شک شبهه کښې مهٔ پریوځه، بیشکه دا قرآن ستا د رب

مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ

ستا د رب له طرف نه | او لیکن | اکثر خلق | ایمان نهٔ راوړی | او څوک | زیات ظالم دے

له طرف نه برحق دے خو اکثر خلق په دے ایمان نهٔ راوړی ۔ او له هغه چا نه زیات ظالم

مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۚ أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ

له هغه چا نه | چه تړی | په الله باندے | دروغ | هم دغه کسان | به پیش کولے شی | د خپل رب په وړاندے

څوک دے چه په الله تعالیٰ باندے دروغ ترِی ، دا سے خلق به خپل رب ته پیش کولے شی،

وَيَقُولُ الْأَشْهَادُ هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا

او وائی به | گواهان | (چه) هم دا خلق دی | کوم چه | دروغ وو ویل | په خپل رب باندے | واوره!

او گواهان به پرے شهادت ورکوی چه دا هغه خلق دی چه په خپل رب ئے دروغ تړلی وو ، واوره!

لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٨﴾ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ

لعنت دے | د الله | په ظالمانو باندے | کوم چه | منع کوی (خلق) | د لارے نه | د الله

چه په ظالمانو د الله تعالیٰ لعنت وریږی ۔ په هغه چا چه د الله تعالیٰ د لارے نه نور خلق منع کوی

وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۭ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿١٩﴾ اُولٰۗىِٕكَ لَمْ يَكُوْنُوْا

او لټوي په هغې کښې | عيب | او دوي | دَ آخرت نه | منکر دي | دا خلق | داسے نهٔ وو

او په هغې کښې کږلیچ پیدا کوي او دَ آخرت هم منکر دي . دوی (الله تعالیٰ) په مزکه

مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَاۗءَ

چه عاجزه کوونکې شوے (الله) | په زمکه کښې | او نهٔ وو | دوی دَپاره | دَ الله نه سوا | ځوک مدد گار

عاجزه کوونکې نهٔ شي او دَ الله تعالیٰ په مقابله کښې ځوک ئې مدد گار هم نشته،

يُضٰعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۭ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا

دوچند به کړے شي | دوی دَپاره | عذاب | نهٔ وو دوی (داسے) | چه دوی طاقت لرلے | دَ آورېدو | او نهٔ وو دوی

اوس به ورله يو په دوه سزا ورکولے شي (ولے چه) نهٔ دوی (حقه خبره) آورېدے شوه او نهٔ

يُبْصِرُوْنَ ﴿٢٠﴾ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ

چه کتلے ئې شوے | هم دا خلق دي | کوم چه | نقصان وکړو | دَ خپلو ځانونو | او ورک شول | له دوی نه

دوی (نېغه لاره) کتلے شوه. دا هغه خلق دي چه خپل ځانونه ئې تاواني کړل او ترے نه تول جوړ

مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢١﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ﴿٢٢﴾

هغه څهٔ چه دوی به تړل | هيڅ شک نشته | چه دوی | په آخرت کښې | نقصان موندونکي دي.

کړي معبودان ورک شول او لازمي خبره ده چه دوی به په آخرت کښې دَ ټولو نه زيات تاوانيان دي.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ

بيشکه | کوم خلق چه | ايمان راوړو | او عملونه ئې وکړو | نيک | او عاجزي ئې وکړه | دَ خپل رب په وړاندې

بيشکه چا چه ايمان راوړو او نيک کارونه ئې وکړل او دَ خپل رب په وړاندې ئې عاجزي وکړه

اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٣﴾ مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ

هم دا خلق | جنتيان دي | دوی به | په دے کښې | هميشه وي | مثال | دَ دواړو ډلو دے

هم دغه خلق جنتيان دي دوی به په جنت کښې هميشه وسيږي. دَدے دواړو ډلو حالت

كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ وَالسَّمِيْعِ ۭ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ۭ

په شان دَ ړوند | او دَ کوڼ | او دَ کتونکي | او دَ آورېدونکي | آيا | دواړه برابر دي | په مثال کښې

داسے دے لکه (يو خو) ړوند کوڼ (وي) او (بل) ليدونکے او آورېدونکے (وي) آيا دا دواړه برابر کيدے شي

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ ۡ اِنِّىْ لَكُمْ

آيا نصيحت نهٔ اخلئ تاسو | او بيشکه | مونږ لېږلے وو | نوح | خپل قوم ته | چه بيشکه زهٔ تاسو دَپاره

نو آيا تاسو غور نهٔ کوئ ؟ او بيشکه مونږ نوح عليه السلام دَ ده دَ قوم طرف ته ولېږلو (هغهٔ ووئيل) چه زهٔ

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٥﴾ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

ويروونکے يم | ښکاره | (او دا) چه تاسو عبادت مهٔ کوئ | سوا دَ الله نه | بيشکه زهٔ ويرېږم | په تاسو باندې

تاسو (دَ الله دَ نافرمانئ) صفا صفا ويروونکے يم او دا چه دَ الله نه سوا دَ بل چا عبادت مهٔ کوئ، ما سره اندېښنه ده چه په

عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾ فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ

دَعذاب | دَ ورځې | درد ورکوونکې | پس ووئیل | هغې سردارانو | چه کافران وُو | دَ دهٔ له قوم نه

تاسو باندې یوه ورځ دردناک عذاب راشي. نو دَ هغهٔ دَ قوم سردارانو چه کافران وُو جواب ورکړو

مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ

نهٔ وینو موږ تا (څهٔ نور) | مګر انسان | په شان زموږ | او نهٔ | وینو موږ تا | چه پیروي کړې وي ستا چا

چه موږ ته خو تهٔ بس دَ ځان غونډې یو بنیادم ښکارې او موږ داګورو چه ستا پیروي په موږ کښې

إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا

سوا دَ هغو خلقو نه | چه ذلیل دي په موږ کښې | په سرسري رائے سره | او موږ نهٔ وینو | تاسو لره | په خپل ځان

هم رذیلانو خلقو اختیار کړے ده چه دَ سرسري عقل خاوندان دي او موږ په تاسو کښې هیڅ خبره

مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ

څهٔ فضیلت | بلکه | موږ خیال کوو په تاسو | دَ دروغژنو | هغهٔ ووئیل | اے زما قومه! | تاسو خو وګورئ

هم (دَ ځان نه) زیاتي نهٔ وینو بلکه ګمان کوو چه تاسو دروغژن یئ (نوح ؑ) ووئیل اے زما قومه! دا خو وښایئ

إِنْ كُنْتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِنْ عِنْدِهِ

که چرې | زهٔ یم | په واضح دلیل باندې | دَ خپل رب دَ طرف نه | او راکړې هغهٔ ماته | رحمت (نبوت) | له خپل طرف نه

چه که زهٔ دَ خپل رب دَ طرف نه په یو ښکاره دلیل ولاړ یم او هغهٔ دَ خپل طرف نه په ما باندې خپل رحمت کړے

فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ ﴿٢٨﴾

بیا هغه (دلیل) ښکاره نهٔ شي | تاسو ته | آیا موږ هغه په تاسو په زور ومنو | او تاسو | هغه | نهٔ خوښوئ

دے خو هغه (رحمت) تاسو ته نهٔ ښکاري نو آیا موږ هغه په تاسو په زور ومنو سره دَ دې چه هغه تاسو نهٔ خوښوئ

وَيَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ

او اے زما قومه! | زهٔ نهٔ غواړم له تاسو نه | په دے | (څهٔ) مال | نهٔ دے | اجر زما | مګر صرف | په الله

او اے زما قومه! زهٔ په دے (تبلیغ باندې) تاسو نه هیڅ مال نهٔ غواړم، زما اجر خو صرف دَ الله تعالیٰ په ذمه دے

وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّهُمْ مُلَاقُو رَبِّهِمْ

او نهٔ یم زهٔ | شړونکے | دَ هغو خلقو | چه ایمان ئے راوړے دے | بیشکه دوی | ملاقات کوونکي دي | خپل رب سره

او کومو خلقو چه ایمان راوړے دے زهٔ هغوی دَ خپل ځان نه شړلے نهٔ شم هغوی دَ خپل رب سره ملاقات کوونکي دي

وَلَٰكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٩﴾ وَيَا قَوْمِ مَنْ يَنْصُرُنِي

لیکن زهٔ | وینم تاسو | دا سے قوم | چه تاسو جهالت کوئ | او اے زما قومه! | څوک به مدد وکړي زما

بلکه زهٔ خو دا ګورم چه تاسو په جهالت کښې پراته یئ. او اے زما قومه! څوک به دَ الله تعالیٰ په مقابله

مِنَ اللَّهِ إِنْ طَرَدْتُهُمْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي

دَ الله په مقابله کښې | که چرې | زهٔ دوی وشړم | نو آیا تاسو غور نهٔ کوئ؟ | او زهٔ دا نهٔ وایم | تاسو ته | چه ما سره

کښې زما امداد وکړي که زهٔ دوی وشړم نو آیا تاسو غور نهٔ کوئ؟ او نهٔ زهٔ تاسو ته دا وایم چه ما سره

خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّیْ مَلَكٌ وَّ

خزانے دی | دَ الله | او نهٔ (داچه) زهٔ عالم یم | په غیبو باندې | او نهٔ | زهٔ دا وایم | چه زهٔ | فرښته یم | او

دَ الله تعالیٰ خزانے دی او نهٔ دا وایم چه دَ غیبو علم لرم ، او نهٔ دا دعویٰ لرم چه زهٔ فرښته یم او

لَآ اَقُوْلُ لِلَّذِیْنَ تَزْدَرِیْۤ اَعْیُنُكُمْ لَنْ یُّؤْتِیَهُمُ اللّٰهُ خَیْرًا

نهٔ زهٔ وایم | هغه کسانو ته چه | سپک گوری ورته | سترگے ستاسو | چه هرگز به نهٔ ورکوی دوی ته | الله | خهٔ نعمت

نهٔ دَ هغه کسانو په حقله چه تاسو ورته دَ حقارت په نظر گورئ دا وایم چه الله تعالیٰ به ورله هیڅ خیر نهٔ ورکوی

اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِیْۤ اَنْفُسِهِمْ ۚۖ اِنِّیْۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿٣١﴾

الله | ښهٔ پوهه دے | په هغه څهٔ | چه دَ دوی په زړونو کښے دی | بیشکه زهٔ | په هغه وخت | به له ظالمانو نه یم .

الله تعالیٰ دَ هغوی دَ زړونو په حال ښهٔ خبر دے ، که زهٔ داسے ووایم نو په ظالمانو کښے به شمیر شم .

قَالُوْا یٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَاْتِنَا

دوی وُوئیل | اے نوحؑ ! | تا جگړه وکړه مونږ سره | پس ډیره وکړه تا | مونږ سره جگړه | پس ته راوله مونږ ته

هغوی ورته ووئیل اے نوحؑ ! تا مونږ سره بحث وکړو او ډیر زیات بحث دِ وکړو اوس بس هغه څیز

بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ اِنَّمَا یَاْتِیْكُمْ

هغه څهٔ چه وعدے کوے ته مونږ سره | که چرے ته یئے | له رښتیا ویونکو نه | هغه ووئیل | بیشکه چه رابه ولی تاسو ته

راوله دَ کوم نه چه ته مونږ همیشه ویروے که ته رښتینے یئے ؟ (نوحؑ ورته) ووئیل چه هغه خو به الله تعالیٰ

بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِیْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَا یَنْفَعُكُمْ نُصْحِیْۤ

هغه | الله | که چرے وغواړی | او نهٔ | یئ تاسو | عاجزه کوونکی | او نهٔ به فائده ورکوی تاسو ته | زما نصیحت

تخپله په تاسو راولی که وغواړی او تاسو هغه عاجزه کولے نهٔ شئ او زما نصیحت به تاسو ته هیڅ فائده

اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ یُرِیْدُ اَنْ یُّغْوِیَكُمْ ؕ هُوَ

که چرے زهٔ وغواړم | چه | زهٔ نصیحت وکړم | تاسو ته | که چرے وغواړی الله | چه بے لارے کړی تاسو | هم دے

ورنهٔ کړی که چرے زهٔ تاسو ته نصیحت کول وغواړم هرکله چه الله تعالیٰ ته ستاسو گمراهی منظوره وی هغه

رَبُّكُمْ ۫ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٤﴾ ؕ اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ

رب دے ستاسو | او دَ دهٔ طرف ته | به تاسو واپس کیږئ | آیا دوی وائی | چه له ځانه جوړ کړے دے دهٔ (قرآن)

ستاسو رب دے او هم هغهٔ ته به تاسو ټول واپس کیږئ . آیا دوی دا وائی چه دهٔ دا (قرآن) په دروغه جوړ کړے

قُلْ اِنِ افْتَرَیْتُهٗ فَعَلَیَّ اِجْرَامِیْ وَاَنَا بَرِیْٓءٌ مِّمَّا

ووایه | که چرے ما له ځانه دا جوړ کړے وی | نو هم په ما دے | زما جرم (گناه) | او زهٔ بیزاره یم | له هغه څهٔ نه

دے؟ ورته ووایه چه که ما دا له ځانه جوړ کړے وی نو دَ دے جرم به په ما وی او کوم جرمونه چه تاسو کوئ نو زهٔ دَ

تُجْرِمُوْنَ ﴿٣٥﴾ ع وَاُوْحِیَ اِلٰی نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ یُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ

چه تاسو جرم کوئ | او وحی وکړے شوه | دَ نوحؑ طرف ته | چه بیشکه | هیڅ کله به ایمان نهٔ راوړی | ستا دَ قوم نه

هغے نه بری یم او نوح علیه السلام ته وحی وکړے شوه چه ستا په قوم کښے چا چه ایمان راوړے هغهٔ راوړو اوس

ع ٣

إِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾

سوا | دَ هغه چانه | چه ایمان ئې راوړے دے | پس ته غم مه کوه | په وجه دَ هغه څه | چه دوی ئې کوی

پېکښې بل هيڅوک ايمان نه راوړی ، نو ته دَ دوی په کارونو هيڅ غم مه کوه.

وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ

او ته جوړه کړه | کشتۍ | زمونږ په وړاندې | او زمونږ په حکم | او مه | کوه خبره ماسره | دَ هغو په باره کښې

او زمونږ په نګرانۍ کښې يوه کشتۍ جوړه کړه او زمونږ په حکم ئې جوړه کړه او ماسره دَ ظالمانو په حقله

ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ ۫ وَكُلَّمَا مَرَّ

چه ظلم ئې کړے دے | بېشکه دوی | غرقيدونکی دی | او جوړولو ده | کشتۍ | او هرکله چه به | تيريدل

خبره مه کوه ، دوی به خامخا ډوب ېږی ، او نوح عليه السلام کشتۍ جوړوله ، او هرکله چه دَ قوم

عَلَيْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ۭ قَالَ اِنْ تَسْخَرُوْا

دَ هغه په خوا کښې | سرداران | دَ ده دَ قوم | نو ټوقې به کولے دوی | دَ ده پورے | ده ووئيل | که چرے | تاسو خاندئ

سرداران به ئې په خوا کښې تيريدل نو ټوقې به ئې ورپورے کولے ، نوح عليه السلام ورته ووئيل که تاسو موږ

مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُوْنَ ﴿٣٨﴾ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ

مونږ پورے | نو بېشکه مونږ به خاندو | په تاسو پورے | لکه چه | تاسو خاندئ | پس زر به | تاسو ته معلومه شی

پورے ملنډے کوئ نو مونږ به په تاسو پورے خاندو لکه چه تاسو خندا کوئ. ډير زر به درته معلومه شی

مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٣٩﴾

چه په چا راځی | (هغه) عذاب | چه رسوا به کړی هغه | او نازليږی | په هغه | عذاب | هميشه

چه په چا باندې شرمونکے عذاب راځی او په چا باندې دَ هميشه عذاب راکوزيږی.

حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا

تر دے چه | هرکله راغے | زمونږ حکم | او جوش ووهلو | تنور | (نو) حکم وکړو مونږ | وَخېژوه | په کشتۍ کښې

(دا خبرے کيدلے) تر دے چه زمونږ حکم راغے او دَ مځکے نه اوبه راووتلے نو مونږ ورته حکم وکړو چه په دے کښې

مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ

دَ هر قسم | جوړے (نر او ماده) | دوه | او خپل کور والا | سوا دَ هغه چانه | چه ثابت شوے دے په هغه

دَ هر قسم ځناورو نه يو يو جوړه يعنی دوه دوه ته وَخېژوه او دَ خپل کور خلق هم مګر (هغه نه) دَ چا په حقله

الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ۭ وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿٤٠﴾

حکم | او (هغه هم) چه ايمان ئې راوړے دے | او نه وُو ايمان راوړے | دَ ده سره | مګر لږ وکسانو

چه فيصله شوے ده او هغه خلق (هم پکښې کښېنوه) چه ايمان ئې راوړے دے او (نوح) سره ډيرو کم خلقو ايمان راوړے وو

وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا ۭ اِنَّ رَبِّيْ

او ده ووئيل | (چه) سواره شئ | په دے کښې | دَ الله په نوم سره | په روانيدو دے | او ودريدو دَ دے کښې | بېشکه زما رب

او نوح ووفرمائيل په دے کشتۍ کښې سواره شئ دَ دے روانيدل او ودريدل دَ الله تعالیٰ په نوم دی بېشکه زما رب

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۱﴾ وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ قف

بخښونکے | مهربان دے | او هغه | روانه وه | چې بېړۍ وه د دوئ | په موجونو کښې | په شان د غرونو

او کشتۍ هغوئ لره د غرونو په شان د لوئو چپو کښې روان کړله. بخښونکے مهربان دے

وَنَادٰى نُوْحُ ࣙابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا

او آواز وکړو | نوح | خپل خوئي ته | او هغه وو | په غاړه | اے زما خوئيه! | سور شه | مونږ سره

او نوح علیه السلام خپل خوئي ته آواز وکړو او هغه یو اړخ ته ولاړ وو، اے زما خوئيه! مونږ سره راسور شه

وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ سَاٰوِيْٓ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ

او مه کېږه ته | کافرانو سره | هغه ووئيل | زه به پناه واخلم | په يو غر باندې | هغه به بچ کړي ما

او کافرانو سره مه پاتے کېږه. هغه ووئيل زه به ډير زر د يو غر پناه واخلم چې ما به د اوبو

مِنَ الْمَآءِ ط قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ

(د طوفان) د اوبو نه | نوح ووئيل | هيڅوک بچ کوونکے نشته | نن | د الله د حکم نه | مګر په چا چې | هغه رحم وکړي

نه بچ کړي (نوح) وفرمائيل، نن د الله تعالیٰ د عذاب نه څوک بچ کوونکے نشته، مګر په چا چې هغه

وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ﴿۴۳﴾ وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ

او حائل شوه | د دوي په مينځ کښې | چپه | نو هغه شو | له ډوبېدونکو نه | او ووئيلے شو | اے زمکے!

مهربان وي، په دې کښې د دواړو ترمينځه يوه چپه راوچته شوه نو هغه هم د نورو سره ډوب شو. او حکم وشو چې اے زمکے!

ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ

ښکته راکاږه | خپلے اوبه | او اے آسمانه! | منع شه | او کمے شوے | اوبه | او پوره شو | کار

خپلے اوبه ښکته راکاږه او اے آسمانه! بس شه نو اوبه کمے شوے او کار پوره کړے شو،

وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾

او ودرېده (کشتۍ) | په جودي غر باندې | او ووئيلے شو | لرې والي (د رحمت نه) | ظالمانو خلقو.

او کشتۍ د جودي په غر باندې ودرېده او ووئيلے شو چې ظالم قوم د پاره هلاکت دے.

وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ

او آواز وکړو | نوح | خپل رب ته | پس ده ووئيل | اے زما ربه! | بيشکه | زما خوئے | زما د کور والو نه دے

او نوح علیه السلام خپل رب ته آواز وکړو او ده ووئيل چې اے زما ربه! بيشکه زما خوئے زما کوروالو کښې شامل دے

وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۴۵﴾ قَالَ يٰنُوْحُ

او بيشکه | ستا وعده | رښتينې ده | او ته | د ټولو نه ښه فيصله کوونکے يې | ووئيل (الله) | اے نوح!

او ستا وعده بالکل رښتينې ده او ته خو د هر يو حاکم د پاسه لوئے حاکم يې. الله ورته ووئيل چې اے نوح!

اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ڦ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا

بيشکه دے | نه دے | ستا د کور والو نه | بيشکه دا ده | عمل | نيک نه دے | پس سوال مه کوه له ما نه | د هغه شي

دے ستا د کور په خلقو کښې شامل نه دے، د ده عملونه ښه نه دي نو ته ما نه د داسے څيز سوال مه کوه

لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۭ اِنِّىْٓ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ

چه نشته دے | تا ته | په هغې باندې | علم | بیشکه زهٔ | نصیحت کوم تا ته | چه (نهٔ) شے ته | له جاهلانو نه | ده ووئیل

چه ته نهٔ پرے نهٔ پوهیږے ، زهٔ در ته نصیحت کوم چه چرے د نادانانو غوندې نهٔ شے ۔ نوح ووئیل

رَبِّ اِنِّىْٓ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔـلَكَ مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ

اے زما ربه! | بیشکه زهٔ | ستا پناه غواړم | (له دے نه) چه | سوال وکړم له تا نه | د هغه څهٔ | چه نشته دے ما ته | د هغې

چه اے زما ربه! زهٔ په تا سره پناه غواړم چه زهٔ له تا نه داسے څیز وغواړم چه پوهه پرے نهٔ

عِلْمٌ ۭ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِيْ وَتَرْحَمْنِيْٓ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۴۷﴾

علم | او که چرے ته ونهٔ بخښنه وکړے ما ته | او ته په ما رحم و(نهٔ) کړے | (نو) شم به زهٔ | له نقصان موندونکو نه

یم ، او که ته ما ونهٔ بخښے او په ما رحم ونهٔ کړے نو زهٔ به تاوان شم ۔

قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلٰٓي اُمَمٍ

حکم وشو | اے نوح ! | ښکته راشه | په سلامتیا سره | زمونږ له طرفه | او برکتونو سره | په تا باندې | او په هغه امتونو باندې

در ته حکم وشو چه اے نوح ! (اوس) کوز شه زمونږ له طرف نه په تا باندې او په هغه امتونو باندې چه تا سره دی

مِّمَّنْ مَّعَكَ ۭ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا

د هغه خلقو نه | چه تا سره دی | او څه امتونه | کومو ته چه به مونږ زر فائده ورکړو | بیا به هغوی ته ورسیږی | زمونږ له طرفه

سلامتیا او برکت وی ، او داسے امتونه به هم راځی چه مونږ به ورله لږ شان عیشونه ورکړو بیا به به

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴۸﴾ تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَاۗءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ۚ

عذاب | دردناک | دا (قول) | خبرونه دی | د غیبو | چه مونږ وحی رالیږو د هغې | تا ته

زمونږ د طرف نه دردناک عذاب راشی ۔ (اے پیغمبره!) دا د غیبو خبرونه دی چه مونږ تا ته د وحی په ذریعه را لیږو

مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ڛ فَاصْبِرْ ڜ اِنَّ

نهٔ وے ته په هغې باندې پوهیدلے | او نهٔ ستا قوم | له دے نه وړاندې | پس صبر کوه | بیشکه

له دے نه وړاندې نهٔ تا ته معلوم وو او نهٔ ستا قوم ته ، پس صبر کوه ، بیشکه

الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۭ قَالَ يٰقَوْمِ

ښهٔ انجام خو | د پرهیزګارو دے | او د عاد طرف ته (مونږ ولیږلو) | د دوی ورور | هود | ده ووئیل | اے زما قومه!

ښهٔ انجام خو هم د پرهیزګارو دے ۔ او قوم د عاد طرف ته مو د دوی ورور هود (ولیږلو) ده ووئیل اے زما قومه!

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا

عبادت کوئ د الله | (چه) نشته دے تاسو لپاره | هیڅ یو معبود | سوا له ده نه | نهٔ یئ تاسو | مګر صرف

تاسو د الله تعالیٰ عبادت کوئ د هغهٔ نه بغیر ستاسو بل معبود نشته ، تاسو خو صرف دروغ

مُفْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ يٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔــلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۭ اِنْ اَجْرِيَ

له ځانه خبرے جوړونکی | اے زما قومه! | زهٔ نهٔ غواړم له تاسو نه | په دے | (څهٔ) اجر | نهٔ دے | زما اجر

تړلی دی ۔ اے زما قومه ! زهٔ تاسو نه په دے (تبلیغ) باندې هیڅ بدله نهٔ غواړم زما بدله خو

إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ

مګر | په هغه ذات کوم چه | زۀ پیدا کړم | پس آیا تاسو عقل نۀ لرئ | او اے زما قومه! | تاسو بخښنه غواړئ | د خپل رب نه

د هغه ذات په ذمه ده چه زۀ ئے پیدا کړے یم نو آیا تاسو د عقل نه کار نۀ اخلئ. او اے زما قومه! د خپل رب نه بخښنه غواړئ

ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً

بیا رجوع کوئ | هغه طرف ته | هغه به رالیږی | آسمان (نه) | په تاسو باندې | په شیبو شیبو باران | او زیات به کړی | طاقت

بیا هغهٔ ته توجه کوئ نو هغه به په تاسو باندې په شیبو شیبو باران ووروی او تاسو له به د دے طاقت سره

إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا يَٰهُودُ مَا جِئْتَنَا

ستا په موجود طاقت کښے | او مخ مه اړوئ تاسو | ګناهګاران شوی | دوی وویل | اے هوده! | نۀ دے راوړے تا مونږ ته

نور زیات طاقت درکړی او (د حق نه) مخ مه اړوئ چه مجرمان به شئ. دوی جواب ورکړو چه اے هوده! تا خو مونږ ته

بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ

څۀ دلیل | او مونږ نۀ یو | پرېښودونکی | خپل معبودان | په خبره ستا | او نۀ یو مونږ په تا

څۀ واضح دلیل نۀ دے راوړے، او مونږ خپل معبودان ستا په وینا پرېښودونکی نۀ شو، او نۀ مونږ په تا ایمان

بِمُؤْمِنِينَ ﴿٥٣﴾ إِن نَّقُولُ إِلَّا اعْتَرَاكَ بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ ۗ

ایمان راوړونکی | نۀ وایو مونږ | مګر (دا چه) رسولے دے تا ته | ځینی معبودانو زمونږ | څۀ ضرر

راوړونکی یو. مونږ خو صرف دا وایو چه زمونږ یو معبود تۀ په دے مصیبت اخته کړے یئے.

قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللَّهَ وَاشْهَدُوا أَنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾

هغۀ وویل | بیشکه زۀ ګواه کوم | الله | او تاسو هم ګواه شئ | چه زۀ | بیزاره یم | له هغه څۀ نه | چه تاسو شریکوئ

هود وویل چه بیشکه زۀ الله تعالیٰ ګواه کوم او تاسو هم ګواهان وسیرئ چه زۀ د ستاسو شرک نه بیزاره یم

مِن دُونِهِ ۖ فَكِيدُونِي جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّي تَوَكَّلْتُ

د هغۀ نه سوا | پس تد بیر وکړئ زما خلاف تاسو | ټول | بیا | مهلت مه راکوئ ما ته | ما خو | توکل وکړو

د الله تعالیٰ نه علاوه تاسو ټول ما ته فریبونه جوړ کړئ او بیا ما ته مهلت مه راکوئ. زما په الله تعالیٰ باندې

عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُم ۚ مَّا مِن دَابَّةٍ إِلَّا هُوَ آخِذٌ

په الله باندې | چه زما رب دے | او ستاسو (هم) رب دے | نشته څۀ (ساه دار په زمکه) تلونکے | مګر هغه | نیوونکے دے

توکل دے چه زما هم رب دے او ستاسو هم رب دے، داسے هیڅ یو ژوندے نشته چه د هغه تندے د الله تعالیٰ

بِنَاصِيَتِهَا ۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾ فَإِن تَوَلَّوْا

تندے د هغه | بیشکه | زما رب | په نیغه لاره باندې دے | پس که چرے تاسو مخ واړوئ

په قبضه کښے نۀ وی، بیشکه زما رب (د حق وانصاف) په نیغه لاره باندې دے. او که تاسو مخ واړوئ

فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّا أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّي

نو ما درسولے دے تاسو ته | (هغه پیغام) چه رالیږلے شوے یم زۀ په هغې | تاسو ته | او ستاسو جانشین به کړی | زما رب

نو ما یقیناً هر هغه پیغام تاسو ته در رسولے دے په کوم سره چه زۀ تاسو ته رالیږلے شوے یم او زما رب به ستاسو په

قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْـًٔا ۗ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

یو (بل) قوم | تاسو نه علاوه | او تاسو به نقصان ورته نه رسولے شئ هغه ته | د هیڅ څیز | بیشکه زما رب | د هر څیز

ځائے یو بل قوم آباد کړی او تاسو به هغه ته هیڅ نقصان رسولے نه شئ ، زما رب د هر څیز نګهبان

حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نګران دے | او هر کله چه راغے | زموږ حکم | نو خلاصے ورکړو موږ | هود ته | او هغو خلقو ته | چه ایمان ئے راوړے وو

دے ۔ او څه وخت چه زموږ حکم راورسید و نو موږ هود علیه السلام او د هغه ایماندار ملګری په خپله

مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ

د ده سره | په خپل رحمت | او موږ خلاصے ورکړه دوی ته | له سخت عذاب نه | او دا دے

مهربانئ بچ کړل ۔ او هغوی موږ د ډیر سخت عذاب نه بچ کړل ۔ او دغه قوم د

عَادٌ ۟ جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا

(قوم د) عاد | کوم چه انکار وکړو | د آیتونو | د رب خپل | او نافرمانی ئے وکړه | د هغه د رسولانو | او پیروی ئے وکړه

عاد وو ، چه د خپل رب د نخښو نه ئے انکار وکړو او د هغه د پیغمبرانو نافرمانی ئے وکړه او د هر ظالم

اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۵۹﴾ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً

د حکم | د هر سرکش | جګړه مار | او ولګولے شو دوی پسے | په دے دنیا کښے (هم) | لعنت

او سرکش د حکم پیروی ئے وکړه ۔ آخر دا چه په دے دنیا کښے هم لعنت ور پسے شو ، او د

وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۗ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ

او | په ورځ د قیامت (هم) | واوره ! | بیشکه | قوم د عاد | انکار وکړو | د خپل رب | واوره ! | لعنت دې وی په عاد

قیامت په ورځ به هم ورپسے وی ، یاد ساتئ چه د عاد قوم د خپل رب نه منکر شو ، خبر شئ چه د هود قوم عاد د

قَوْمِ هُوْدٍ ﴿۶۰﴾ وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ

چه قوم د هود وو | او (قوم د) ثمود طرف ته | (موږ ولیږلو) د دوی ورور | صالح | ده ووئیل | اے زما قومه !

رحمت نه) لرے پریوتل ۔ او ثمود (نومے قوم) ته (موږ) د دوی ورور صالح ولیږلو ده ورته ووئیل چه اے زما قومه !

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۗ هُوَ اَنْشَاَكُمْ

عبادت وکړئ | د الله | نشته ستاسو لره | هیڅوک معبود | سوا د هغه نه | هغه پیدا کړی تاسو

د الله تعالیٰ عبادت کوئ چه د هغه نه بغیر ستاسو بل معبود نشته ، هم هغه تاسو د مزکے نه

مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ۗ

له زمکے نه | او آباد ئے کړئ تاسو | په دے کښے | پس بخښنه غواړئ هغه نه | بیا رجوع کوئ | هغه طرف ته

را پیدا کړی یئ او په دے کښے ئے آباد کړی یئ ، نو د هغه نه معافی غواړئ بیا هغه ته توجه کوئ ـ

اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ﴿۶۱﴾ قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ فِيْنَا

بیشکه زما رب | نزدے دے | قبلوونکے دے | دوی ووئیل | اے صالحه ! | بیشکه ته وے | په موږ کښے

بیشکه زما رب هر چا ته نزدے دے او دعا ګانے قبلوونکے دے ، دوی ورته ووئیل چه اے صالحه ! د دے نه وړاندے تا نه

مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَآ اَتَنْهٰىنَآ اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا

د اُمید ونو آسره | له دے نه وړاندې | آیا ته موږ منع کوې | چه عبادت وکړو موږ | د هغه څه چه عبادت یې کولو | پلارانو زموږ

زموږ ډیر اُمید وته وو ، آیا ته موږ ته د دے د عبادت نه منع کوے د کوم عبادت چه زموږ پلار نیکه

وَاِنَّنَا لَفِىْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ٦٢ قَالَ

او بیشکه موږ | په شک کښے یو | له هغه څه نه | کوم طرف ته چه ته موږ بلے | په لویه شک کښے | ده ووئیل

کړے وو، او د کومے خبرے طرف ته چه ته موږ رابلے د هغے په حقله موږ په ډیر شک کښے پراته یو. ده ووئیل

يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّىْ وَاٰتٰىنِىْ

اے قومه زما! | آیا گورئ تاسو | که چرے زه یم | په یو واضح دلیل باندې | د خپل رب له طرف نه | او هغه راکړے وي ما ته

اے زما قومه! دا خو ووایئ چه که زه د خپل رب د طرف نه په یو واضح دلیل قائم یم او هغه په ما

مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ يَّنْصُرُنِىْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ

له خپل طرف نه | رحمت (نبوت) | نو څوک | به زما مدد وکړي (بچ کړي) | د الله نه | که چرے | زه د هغه نافرماني وکړم

خپل رحمت هم کړے وي نو څوک به د الله تعالیٰ په مقابله کښے زما امداد وکړي که زه د هغه نافرماني وکړم

فَمَا تَزِيْدُوْنَنِىْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ٦٣ وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ

پس نه | زیاتوئ تاسو ما د پاره | بغیر د نقصان نه | او اے زما قومه! | دا | اوښه ده | د الله | تاسو د پاره

تاسو خو ما له هم تاوان راکوئ . او اے زما قومه! دا د الله تعالیٰ اوښه ده چه تاسو د پاره

اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِىْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ

یوه نخښه | پس پریږدئ دا | چه څرېږي | په زمکه | د الله | او مه رسوئ دے ته (څه) تکلیف

یوه نخښه ده، پس تاسو دا پریږدئ چه د الله تعالیٰ ملک کښے آزاده څرېږي او دے ته څه تکلیف مه رسوئ

فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيْبٌ ٦٤ فَعَقَرُوْهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوْا

پس و به نیسي تاسو | عذاب | نزدے (ډیر زر) | نو دوی اوښه مړه کړه | نو ده فرمائیل | نفع واخلئ (د ژوندانه)

گني یو نزدے عذاب به مو راونیسي . په دے باندې هم دوی هغه اوښه ووژله نو صالح ؑ و فرمائیل چه په خپلو

فِىْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوْبٍ ٦٥ فَلَمَّا

په خپلو کورونو کښے | درے | ورځے | دا | وعده ده | چه دروغ نه ده | پس هر کله چه

کورونو کښے بس درے ورځے نورے تیرے کړئ (یاد ساتئ چه) دا وعده ده چه پکښے بالکل دروغ نشته . بیا هر کله چه

جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

راغے | زموږ حکم | نو خلاص ورکړو موږ | صالح ته | او هغو خلقو ته | چه ایمان ئے راوړے وو | د ه سره | په رحمت | خپل سره

زموږ حکم راغے نو موږ په خپل رحمت سره صالح ؑ له او هغو خلقو له چه د ده سره ئے ایمان راوړے وو نجات ورکړو

وَمِنْ خِزْىِ يَوْمِئِذٍ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِىُّ الْعَزِيْزُ ٦٦ وَاَخَذَ

او له رسوایئ نه | د دغه ورځے | بیشکه | ستا رب | هم هغه دے | زور ور | زبردست | او ونیول

او د هغے ورځے د رسوایئ نه (موبچ کړل) ، بیشکه ستا رب ډیر قوي او غالب دے . یا ته شول ظالمان

الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾

هغه خلق چه | ظلم ئے وکړو | یو بے (غیبي) چغې | پس د سحر و و دوی | په خپلو کورونو کښې | مړهٔ پراته

نو هغوی یو بے (ناتړ سے) چغې ونیول ، نو په خپلو کورونو کښې د سحر په وخت کښې داسے پړمخے پریوتل

كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَاۡ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا

لکه چه | دوی هیڅ ؤ و نه | په دغه ځایونو کښې | واوره! | بیشکه (قوم د) ثمود | انکار وکړو | د خپل رب | واوره

لکه چه دوی دغلته هیڅ اوسیدلی نهٔ وو ، یاد ساتئ چه ثمودیانو د خپل رب نه انکار کړے وو ، یاد ساتئ

بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿٦٨﴾ وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ

لرے والے دے دی | ثمودیانو د پاره | او بیشکه | راغلی وو | زمونږ رالیږلے شوی (فرښتې) | ابراهیم ته

چه ثمودیان (د رحمت نه) ډیر لرے وغورزیدل او بیشکه زمونږ فرښتو ابراهیم علیه السلام ته زیرے راوړو

بِالْبُشْرٰى قَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ

په زیری سره | دوی ووئیل | سلام | دهٔ ووئیل | سلام | بیا دهٔ وخت تیر نه کړو | چه راوړو دهٔ | سخے

او ورته ئے ووئیل چه سلامت اوسے ، دهٔ ووئیل چه تاسو هم سلامت اوسئ نو ساعت تیر نهٔ ؤو چه یو وریت سخے ئے

حَنِيْذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَاٰۤ اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَاَوْجَسَ

وریت شوے | بیا هر کله چه | دهٔ وکتل | د دوی لاسونه | چه نهٔ رسیږی | هغه ته | نو کم شکمن شو په دوی | او محسوس کړه (په زړهٔ کښې)

ورله راوویستلو . خو چه داسے وکتل چه د دوی لاسونه ورته نهٔ وړاندې کیږی نو شکمن شو او په زړهٔ کښې

مِنْهُمْ خِيْفَةً ؕ قَالُوْا لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ ﴿٧٠﴾

له دوی نه | ویره | دوی ووئیل | مهٔ ویریږه | بیشکه مونږ رالیږلے شوی یو | د لوط د قوم طرف ته

ئے ترے نه ویره وشوه . فرښتو ورته ووئیل چه مهٔ ویریږه مونږ د لوط علیه السلام قوم ته رالیږلے شوی یو

وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ ۙ وَمِنْ وَّرَآءِ

او بی بی د دهٔ | ولاړه وه | پس دے وخندل | نو زیرے ورکړو مونږ دے ته | د اسحاق | او وروستو

او د ابراهیم علیه السلام بی بی ولاړه وه (او دا ئے واورېدل) نو هغے خاندل نو مونږ ورله د اسحاق (نوم ځوئے) زیرے ورکړو او په

اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ﴿٧١﴾ قَالَتْ يٰوَيْلَتٰٓى ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ

د اسحق نه | د یعقوب | دے ووئیل | چه هائے زما کم نصیبه | آیا زهٔ به زیږوم | حالانکه زهٔ | بوډۍ یم

اسحق پسے د (هغهٔ ځوئے) یعقوب . دے ووئیل چه هائے زما کم نصیبه زهٔ به اوس ځوئے راوړم چه بوډۍ شوم

وَّهٰذَا بَعْلِيْ شَيْخًا ؕ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ

او دا | زما خاوند (هم) | بوډا دے | بیشکه | دا (خو) | خبره ده | عجیبه | دوی ووئیل | آیا ته تعجب کوے

او دا زما خاوند هم بوډا دے . دا خو ډیره عجیبه خبره ده ، دوی ووئیل آیا ته د الله تعالی په

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ

د الله په کارونو کښې | د الله رحمت | او د هغهٔ برکتونه دی | په تاسو | اے کور والو !

کارونو کښې تعجب کوے . اے د دے کور خاوندانو په تاسو د الله تعالی رحمت او برکتونه دی

٦ ع ٨ ٦

إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ
بیشکه هغه | ستائیلے شوے | د لوئی خاوند دے | پس هرکله چه | لاړه | له ابراهیم نه | ویره | او ورلغے ده ته
بیشکه هغه د تعریف جوګه او د لوئے شان خاوند دے. نو هرکله چه د ابراهیم علیه السلام ویره ختمه شوه او زیرے ورته
ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ
زیرے | نو مونږ سره په جګړه شو | د لوط د قوم په باره کښے | بیشکه | ابراهیم | د زغم خاوند دو
راغلو ، نو مونږ سره ئے د لوط د قوم په حقله بحث شروع کړو، بیشکه ابراهیم علیه السلام ډیر حلیم ،
أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾ يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ
(الله نه) ویریدونکے | (هغه ته) رجوع کوونکے | اے ابراهیمؑ! | مخ واړوه | له دے نه
د الله نه ویریدونکے او رجوع کوونکے وو اے ابراهیمؑ! دا خبره پریږده
إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ
بیشکه راغلے دے | حکم ستا د رب | او بیشکه په دوی باندے راتلونکے دے | عذاب
بیشکه ستا د رب قطعی حکم شوے دے او په دوی به داسے عذاب ضرور راځی
غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ بِهِمْ
چه نه دے واپس کیدونکے | او هرکله چه | راغلے | زمونږ رالیږلے شوی (فرښتے) | لوط ته | (نو) هغه غمژن شو | په وجه د دوی
چه هغه د واپس کیدو نه دے. او هرکله چه زمونږ فرښتے لوط علیه السلام ته راغلے نو د دوی په راتلو خفه شو،
وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾ وَجَآءَهُۥ
او تنګ شو | له دوی نه | په زړه کښے | او وئے وئیل | (چه) دا (خو) | یوه ورځ ده | د مصیبت | او ورغلل ده ته
او په زړه ئے بار شو ، او وئے وئیل چه دا نننئ ورځ ډیره سخته ده، او ده ته د قوم
قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ
د ده د قوم (خلق) | په منډه منډه | د ده طرف ته | او له وړاندې نه | په دوی کول | بد کارونه
خلق په منډه منډه ده ته راغلل ، او دوی لا د وړاندې نه بد کارونه کول.
قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ
(لوطؑ) ووئیل | اے زما قومه! | دا دی | زما لونړه | دوی | ډیرے پاکے دی | تاسو ته | پس د ویریږئ | د الله نه
لوطؑ ووئیل اے خلقو! دا زما لونړه دی، دا تاسو د پاره پاکے دی (د دوی سره نکاح وکړئ) د الله تعالیٰ نه ویریږئ
وَلَا تُخْزُونِ فِى ضَيْفِىٓ ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾ قَالُوا۟
او ما مه رسوا کوئ | زما په میلمنو کښے | آیا نشته دے | په تاسو کښے | څوک سړے | په سمه لار روان | دوی ووئیل
او ما په خپلو میلمنو کښے مه رسوا کوئ ، آیا په تاسو کښے سم سړے نشته . دوی ووئیل
لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِى بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ
بیشکه پوهه یئے ته | چه نشته زمونږ | ستا په لونړو کښے | څه | حق (دلچسپی) | او بیشکه ته | ښه پوهیږے
چه تا ته معلومه ده چه ستا د لونړو مونږ ته څه ضرورت نشته . او تا ته دا هم معلومه ده

مَا نُرِيْدُ ﴿۷۹﴾ قَالَ لَوْ اَنَّ لِىْ بِكُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِىْٓ

موږ چه څه غواړو | دهٔ ووئیل | کاش که (وے) | ماسره | په تاسو باندې | څهٔ طاقت | یا | ما پناه اخستے وے

چه موږ څهٔ غواړو؟ لوط علیه السلام ووئیل اے کاش! ماسره دَ مقابلے طاقت وے یا زهٔ دَیوے مضبوطے

اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ﴿۸۰﴾ قَالُوْا يٰلُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ

چا زورَور آډر قوم ته | فرښتو ووئیل | اے لوط! | بیشکه موږ | رالیږلے شوی (فرښتے) یُو | ستا دَ رب

آسرے سره پناه نیولے وے۔ فرښتو ووئیل اے لوطه! بیشکه موږ ستا دَ رب رالیږلے شوے فرښتے

لَنْ يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ

هیڅ کله به ونهٔ رسیږی دوی | تا ته | پس بوځه | خپل کسان | دَ شپے په څهٔ برخه کښے | او دِ رو ستو دِ نهٔ گوری

یُو، دوی تا ته نزدے کیدے قدر له هم نهٔ شی، نو دَ شپے شپے دَ خپل کور خلق وباسه او په تاسو کښے به

مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ ؕ اِنَّهٗ مُصِيْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ ؕ

له تاسو نه | هیڅوک | سوا | ستا دَ ښځے نه | بیشکه دا | رسیږی به چه ته | هغه څهٔ چه رسیږی به دوی ته

هیڅوک هم مخ په شا نهٔ گوری خو (صرف) ستا ښځه هغه به هم په دغه آفت کښے اخته کیږی چه دا نور (قوم) پکښے

اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ؕ اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ ﴿۸۱﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا

بیشکه دَ دوی دَ وعدے وخت | صبا دے | آیا نهٔ دے | صبا | نزدے | پس هر کله چه راغے | زموږ حکم

اخته کیږی، دَ دوی دَ ہلاکت وخت صبا دے آیا صبا نزدے نهٔ دے؟ نو هر کله چه زموږ حکم را ورسیدو

جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۙ مَّنْضُوْدٍ

نو کړله موږ | برنئ برخه دَ دے (کلی) | دَ لاندے برخه | او وورول موږ | په هغے | کانړی | دَ کنکانړو

نو موږ هغه زمکه لاندے باندے کړه، او په هغوی مو پرله پسے دَ کانړو باران

مَّنْضُوْدٍ ﴿۸۲﴾ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ ؕ وَمَا هِىَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ ﴿۸۳﴾

پرله پسے | نخښه دار | ستا دَ رب په نزد | او نهٔ دے دا (کلی) | دَ ظالمانو نه | څهٔ لرے

وُورولو په کوم چه ستاسو دَ رب له طرف نه نخښے لگیدلے وے او دا خائے دَ دے ظالمانو نه څهٔ لرے نهٔ دے

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او مدین ته (مو ولیږلو) | دَ دوی ورور | شعیب | دهٔ ووئیل | اے زما قومه! | عبادت کوئ | دَ الله

او مدین طرف ته مو دَ دوی ورور شعیب ولیږلو دهٔ ووئیل اے زما قومه! دَ الله تعالیٰ عبادت کوئ

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّىْٓ

نشته دے تاسو لره | هیڅ معبود | بے له دهٔ نه | او کمی مهٔ کوه | په ناپ | او تول کښے | بیشکه زهٔ

دَ هغهٔ نه سوا ستاسو بل معبود نشته۔ او په ناپ او تول کښے کمے مهٔ کوئ، بیشکه زهٔ

اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ وَّاِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ ﴿۸۴﴾

وینم تاسو | خوشحاله | او | بیشکه زهٔ ویریږم | په تاسو | له عذاب نه | دَ ورځے راگیرونکے۔

تاسو خوشحاله گورم او زهٔ ستاسو په حق کښے دَ هغے ورځے دَ عذاب نه ویریږم چه تاسو ټول به راگیر کړی

وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا

او اے زما قومه! | پوره ورکوئ | پیمانه | او تله | په انصاف | او کم مه ورکوئ

اے زما قومه! ناپ او تول په انصاف سره پوره پوره کوئ، او خلقو ته د هغوی

النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ اللّٰهِ

خلقو ته | د دوی څیزونه | او مه ګرځئ | په زمکه کښې | فساد کوونکي | باقي بچ شوے | د الله

څیزونه کم مه ورکوئ او د زمکے په مخ فساد مه کوئ، د الله (په درکړه کښې) بچ شوے

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿٨٦﴾

بهتر دے تاسو له | که چرے | تاسو یئ | مؤمنان | او نه یم زه | په تاسو باندې | نګهبان

ګټه درله (ډیره) بهتره ده که تاسو مؤمنان یئ . او زه څه ستاسو نګران خو مقرر شوے نه یم

قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ

دوی ووئیل | اے شعیبؑ! | آیا ستا مونځ | تا ته حکم کوی | چه مونږ پریږدو | هغه څه چه | عبادت به یې کولو

دوی جواب ورکړو چه اے شعیبؑ! آیا ستا دا مونځ تا ته هیله دا تعلیم ښائي چه مونږ د هغه څیزونو پریږدو د چه

اٰبَآؤُنَآ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِىْٓ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ۗ اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ

پلارانو زمونږ | یا چه | مونږ و نه کړو په خپلو مالونو کښې | څه چه مونږ غواړو | بیشکه ته خو | بردبار

زمونږ پلارانو نیکونو د هغې عبادت کولو یا دا پریږدو د چه په خپلو مالونو کښې په خپله خوښې لاس وهو، واقعي ته خو ډیر هوښیار

الرَّشِيْدُ ﴿٨٧﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ

نیک سړے یې | هغه ووئیل | اے زما قومه! | آیا تاسو وینئ | که چرے زه یم | په یو واضح دلیل باندې

او پوخ دینداره شوے یې . هغه ووئیل چه اے زما قومه! دا خو را ته ووایئ چه که زه د خپل رب د طرف نه په

مِّنْ رَّبِّىْ وَرَزَقَنِىْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۗ وَمَآ اُرِيْدُ

د خپل رب له طرف نه | او هغه راکړې وی ما ته | د خپل طرف نه | روزی ښه | او زه نه غواړم

قرکن دلیل ولاړ یم (بیا هم) هغه ماله د خپل طرف نه ښه مال روزی کړے وی او زما دا نیت نه دے چه

اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ۗ اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ

چه زه د مخالفت وکړم تاسو سره | د هغې نه چه تاسو ترې منع کوم | زه نه غواړم | مګر | اصلاح

ستاسو خلاف د هغه کار ته په خپله لاس واچوم د کوم نه چه زه تاسو منع کوم، زه خو ستاسو اصلاح کول غواړم

مَا اسْتَطَعْتُ ۗ وَمَا تَوْفِيْقِىْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ۗ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ

تر څو چه ما نه کیدے شي | او نشته زما توفیق | مګر د الله (په مدد) | په هغه | زه توکل کوم | او د هغه طرف ته

تر څو چه م وس رسي او زما چه څه توفیق دے د الله تعالیٰ د طرف نه دے، په هغه باندې م توکل دے او په هر معامله

اُنِيْبُ ﴿٨٨﴾ وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِىْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ

زه رجوع کوم | او اے زما قومه! | تیار دې نه کړی تاسو | زما مخالفت | دے ته چه ورسیږی تاسو ته | په مثل د هغه څه

کښې هغه ته مخ ګرځوم او اے زما قومه! (هسے نه چه) ما سره د ښمنی تاسو تر دے حده ورسوی چه په هغه

أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَٰلِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِّنكُم

چه رسیدلے وو | قوم د نوح | یا قوم د هود | یا قوم د صالح ته | او نه دے قوم د لوط | له تاسو نه

مصیبت اخته شئ لکه د نوح قوم یا د هود قوم یا د صالح قوم چه پرے اخته شوی وو، او د لوط د قوم (زمانه او علاقه)

بِبَعِيدٍ ﴿٨٩﴾ وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ

لرے | او بخښنه غواړئ | له خپل رب نه | بیا توبه کوئ | د هغه طرف ته | بیشکه زما رب | مهربان

تاسو څخه لرے نه ده او تاسو د خپل رب نه بخښنه غواړئ بیا هغه ته رجوع شئ، زما رب یقیناً رحم کوونکے (او)

وَدُودٌ ﴿٩٠﴾ قَالُوا يَٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا

محبت کوونکے دے | دوی وویل | اے شعیب! | مونږ نه پوهیږو | په ډیرو (خبرو) | هغه چه ته وائے | او بیشکه مونږ

مینه ناک دے. دوی وویل اے شعیب! څه چه ته وائے په هغه کښے په اکثرو خبرو مونږ نه پوهیږو او ته

لَنَرَىٰكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَٰكَ ۖ وَمَا أَنتَ عَلَيْنَا

تا وینو | په خپل مینځ کښے | کمزورے | او که نه وے ستا خاندان | نو ته به مو سنګسار کړے وے | او نه یې ته | په مونږ

مونږ ته په خپل ټولی کښے ډیر کمزورے ښکارے او که ستا (د) کورنئ (لحاظ) نه وے نو مونږ به تا ډبره سنګسار کړے وے او

بِعَزِيزٍ ﴿٩١﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَهْطِىٓ أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَٱتَّخَذْتُمُوهُ

غالب | ده وویل | اے زما قومه! | آیا زما خاندان | زیات زورآور دے په تاسو | د الله نه | او تاسو غورځولے دے هغه

ته په مونږ غالب نه یې. ده وویل چه اے زما قومه! آیا زما د کورنئ (حق) په تاسو د الله تعالیٰ نه زیات دے، حال دا دے چه تاسو هغه

وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۖ إِنَّ رَبِّى بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٩٢﴾ وَيَٰقَوْمِ

له وروستو د شا نه خپلو | بیشکه زما رب | په هغه څه | چه تاسو کوئ | احاطه کوونکے دے | او اے زما قومه!

هغه هم شا ته پریښے دے، بیشکه زما رب ستاسو په ټولو کارونو راچاپیره دے. او اے زما قومه!

ٱعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌ ۖ سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ

عمل کوئ تاسو | په خپل ځائے باندے | بیشکه زه (هم) عمل کوونکے یم | زر به تاسو ته معلومه شی (چه) | په چا | راځی

تاسو په خپل چال چلیږئ او زه به (په خپل چال) روان یم. زر به درته معلومه شی چه شرموونکے عذاب

عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَٰذِبٌ ۖ وَٱرْتَقِبُوٓا إِنِّى مَعَكُمْ

(هغه) عذاب | چه رسوا به کړی هغه | او هغه څوک | چه هغه دروغژن دے | او تاسو انتظار کوئ | بیشکه زه (هم) | تاسو سره

به په چا راځی، او څوک دروغژن دے. او تاسو هم انتظار کوئ او زه به هم تاسو

رَقِيبٌ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا

انتظار کوونکے یم | او هرکله چه | راغے | زمونږ حکم | نو مونږ نجات ورکړو | شعیب ته | او هغه خلقو ته چه | ایمان ئے راوړے وو

سره انتظار کوم. او هرکله چه زمونږ حکم راغے نو شعیب (علیه السلام)، او د هغه مؤمنان ملګری مو په

مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا ٱلصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا

د ده سره | په خپل رحمت سره | او ونیول | ظالمان | (غیبی) چغے | بیا دوی شول د صبا

په خپل رحمت سره بچ کړل، او ظالمان یو سخت چغے راونیول، نو په خپلو کورونو

فِي دِيَارِهِمْ جٰثِمِينَ ﴿٩٤﴾ كَأَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَا بُعْدًا

لرے شول (د رحمت) | وا ورہ ! | دا ورہ | په هغے کښے | لکه چه دوی هیڅ اوسیدلی نه وو | صرہ پریوتلی | په خپلو کورونو کښے

د مدین (قوم) چه وا ورہ ! | اوسیدلی نه وو ، | لکه چه هیڅ چرے پکښے | ارولی پریوتل ، | کښے (دا سے)

لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسٰى بِاٰيٰتِنَا ع

خپلو نخښو سره | موسیٰ | او بیشکه | مونږ لیږلے وو | ثمودیان | څنګه چه لرے شوی وو | مدین (والا)

رحمت نه (دا سے) لرے شول لکه ثمودیان (چه لرے شوی وو) او مونږ موسیٰ علیه السلام د خپلو نخښو او د څرګند

وَسُلْطٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَاتَّبَعُوا أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ

او په دلیل | روښانه سره | په طرف د فرعون | او د ده د سردارانو | پس دوی پیروي وکړه | د حکم | د فرعون

دلیل سره راولیږلو ، | فرعون او د هغه سردارانو ته ، | خو هغوی د فرعون په حکم روان وو

وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ

او نه وو حکم | د فرعون | په سمه لاره | هغه به وړاندې وي | د خپل قوم | په ورځ د قیامت | پس داخل به کړي دوی

او د فرعون حکم (بالکل) درست نه وو ، د قیامت په ورځ به د خپل قوم وړاندې روان وي ، نو دوزخ ته به

النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتْبِعُوا فِي هٰذِهِ لَعْنَةً

اور کښے | او هغه ډیر بد | ځائے دے | د کوزیدو | او دوی پسے شو | په دے (دنیا) کښے | لعنت

ئے ورکوزکړي او هغه ډیر خراب ځائے دے د کوزیدو . او په دے دنیا کښے هم ورپسے لعنتونه دی او د

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾ ذٰلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْقُرٰى

او په ورځ | د قیامت (هم) | هغه خراب | انعام دے | چه دوی ته ورکړے شو | دا | خبرونه دی | د هغه کلو

قیامت په ورځ به هم وي ، دغه بدله (د لعنتونو) ډیره خرابه ده . | دا د هغه کلو خبرونه دی .

نَقُصُّهُ عَلَيْكَ مِنْهَا قَآئِمٌ وَّحَصِيدٌ ﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ

چه مونږ آورؤ | تا ته | ځنے له هغے نه | باقي دی | او (ځنے) ختم شوی دی | او مونږ په دوی ظلم نه دے کړے

چه مونږ تا ته آورؤ ، ځنے کلي لا تر اوسه موجود دی او ځنے ختم شوی دی ، او مونږ په هغوی زیاتے نه دے

وَلٰكِنْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَمَا أَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِي يَدْعُونَ

لیکن | دوی ظلم وکړو | په خپلو ځانونو | پس په کار رانغلل | د دوی | معبودان د دوی | کوم چه دوی بلل

کړے ، بلکه هغوی په خپله په ځان زیاتے وکړو ، نو هغه معبودان ئے هیڅ په کار رانغلل چه د الله تعالیٰ

مِنْ دُونِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَمَا زَادُوهُمْ

سوا د الله نه | هیڅ (هم) | هر کله چه | راغلو | حکم ستا د رب | او دے معبودانو زیات نه کړو دوی ته

نه بغیر به ئے هغوی بلل ، | هر کله چه ستا د رب حکم راغے ، | او (بلکه) هغوی خو ور له

غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿١٠١﴾ وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ

بے له هلاکت نه | او هم دغه شان | نیول دی | ستا د رب | هر کله چه هغه ونیسي | کلي | کله چه هغوی

د هلاکت نه بغیر هیڅ فائده ورنه کړه . او ستا د رب نیول هم دا سے وي هر کله چه د کلو خلق راونیسي ، کله چه

ظَالِمَةٌ ۭ اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴿١٠٢﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ

ظالمان وي | بیشکه | دَ هغهٔ نیول | دردناک | (او) سخت دي | بیشکه په دې کښې | نخښه ده | دَ هغه چا دپاره

هغوی زیاتې وکړې ، دَ هغهٔ نیول دردناک او سخت دي ، بیشکه په دې کښې دَ هغه چا دپاره نخښه پرته

خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ

چه ویرېږي | دَ عذاب | دَ اخرت (نه) | دا (داسې) ورځ ده | چه پکښې به جمع کړے شي | خلق

ده چه دَ اخرت دَ عذاب نه ویرېږي ، هغه به داسې ورځ وي چه ټول خلق به راټول کړے شي

وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴿١٠٣﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ﴿١٠٤﴾

او دا به (داسې) ورځ وي | چه ټول به پکښې حاضر کړے شي | او نهٔ وروستو کوو مونږ دَ هغې | مګر | یوې مقرر شوې موده پورې

دا هغه ورځ ده چه پکښې به ټول (دَ الله په دربار کښې) پېش کړے شي او مونږ خو دوی بس ترڅو پورې ټاکلې مودې پورې وروستو

يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّ

په کومه ورځ چه هغه راشي | خبره به نهٔ کوي | هیڅوک | مګر | دَ هغهٔ په اجازت | پس څوک له دوئي | به بدبخت وي | او

کړې دي ، هرکله چه هغه ورځ راشي نو هیڅوک به بغیر دَ الله دَ اجازت نه خبره هم نهٔ شي کولے نو څوک خلق به بدبخته وي

سَعِيْدٌ ﴿١٠٥﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ

څوک نیکبخت | پس کوم خلق چه به | بدبخت وي | نو هغوی به په دوزخ کښې وي | هغوی دپاره به | په هغې کښې (هلته) | نعرې

او څوک به نیکبخته وي ، پس هغه خلق چه بدبخته وي په دوزخ کښې به وي ، په هغې کښې به نعرې سورې

وَّشَهِيْقٌ ﴿١٠٦﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا

او چغې وي | همیشه به وي | په هغې کښې | ترڅو چه قائم دي | آسمانونه | او زمکه | مګر

وهي ، په هغې کښې به همیشه پراته وي ، ترڅو چه آسمان او زمکه موجود دي ، مګر

مَا شَآءَ رَبُّكَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿١٠٧﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

څهٔ چه وغواړي | ستا رب | بیشکه ستا رب | کوي | هغه څهٔ چه | هغه غواړي | او کوم | خلق چه

څومره چه ستا پروردګار وغواړي ، بیشکه ستا رب چه څهٔ غواړي کوي ، او څوک چه دَ نصیب خاوندان

سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ

نیکبخت کړے شول | پس په جنت کښې به وي | همیشه به وي | په هغې کښې | ترڅو چه قائم دي | آسمانونه

دي ، نو هغوی به په جنت کښې وي او همیشه به پکښې مزې کوي ، ترڅو چه آسمانونه او زمکه موجود

وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۭ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴿١٠٨﴾ فَلَا تَكُ

او زمکه | مګر | څهٔ چه وغواړي | ستا رب | دا ورکړه ده | نهٔ ختمېدونکې | پس مهٔ کېږه ته

دي ، مګر څومره چه ستا رب وغواړي ، دا نهٔ ختمېدونکې ورکړه ده ، نو ته دَ دوی په باره

فِيْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ۭ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ

په شک کښې | له هغه څهٔ نه | چه عبادت یې کوي | دا خلق | دوی عبادت نهٔ کوي | مګر | څنګه چه به عبادت کولو

کښې دَ کومو څیزونو چه دوی عبادت کوي هیڅ شک مهٔ کوه ، دا خلق هغه شان عبادت کوي لکه چه دَ دوی

ع ٩ ١٢ ٩

اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ﴿١٠٩﴾

ذَدوی پلارانو | وړاندې له دوی | او بیشکه مونږ به پوره پوره ورکړو دوی ته | ذدوی برخه | بغیرد کمولونه

نه وړاندې ذدوی پلارانو عبادت کولو، او بیشکه مونږ به دوی ته خپله (د عذاب) برخه بغیرد کمولونه پوره پوره ورکوو

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ

او بیشکه مونږ ورکړې وو | موسیٰ ته | کتاب | بیا اختلاف وکړے شو | په دے کښے | او که چرې نه وے | یوه خبره

او مونږه موسیٰ علیه السلام ته کتاب ورکړو نو په هغے کښے (هم) اختلاف وکړے شو او که یوه خبره ستا د رب له

سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ

وړاندې شوے | ستا د رب له طرف نه | نو فیصله به شوے وه | د دوی ترمینځه | او بیشکه دوی | په شک کښے دی | له دے نه

طرف نه وړاندې خلاصه شوے نه وے نو ځغوی ترمینځه به (بخوا) فیصله شوے وه او دوی یقیناً په دے معامله کښے په

مُرِيْبٍ ﴿١١٠﴾ وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ

په زور شک کښے | او بیشکه | ټولو ته | هر کله چه | به ضرور پوره بدله ورکړی | ستا رب | د دوی د عملونو | بیشکه هغه

شک کښے دی۔ او بیشکه ستا رب به دے ټولو ته د خپلو عملونو بدله پوره پوره ورکوی، هغه د دوی

بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿١١١﴾ فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ

څه چه دوی کوی | ښه خبردار دے | پس قائم اوسه ته | څنګه چه تاته حکم شوے دے | او هغه څوک | چه توبه ئے کړے ده

په کارونو ښه خبردار دے۔ نو ته (په سمه لار) قائم اوسه لکه څنګه چه درته حکم شوے دے او هغه خلق هم

مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ؕ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿١١٢﴾ وَلَا تَرْكَنُوْٓا

تا سره | او له حد نه مه تیریږه | بیشکه هغه | هغه څه ته چه تاسو کوئ | ګوری | او مه مائله کیږئ

چه توبه ئے کړے ده او تا سره ملګری دی او سرکشی مه کوئ بیشکه هغه ستاسو کارونه وینی ګوری۔ او هغو خلقو ته مه

اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

د هغو طرف ته | کوم چه ظلم وکړو | پس وبه رسیږی تاسو ته | اور | او نشته دے تاسو له | د الله نه سوا

مائله کیږئ چه ظالمان دی ګنی تاسو ته به (هم د دوزخ) اور ورسیږی، او د الله تعالیٰ نه بغیر هیڅوک به هم

مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ

څوک | دوستان | بیا به | تاسو ته مدد نه شی ورکولے | او قائم کړه | مونځ | په دواړو طرفونو کښے د ورځې

مدد ګار نه وی او د هیچا اړخ نه به ستاسو امداد او نه شی کیدے۔ (اے پیغمبره!) د ورځے دواړو غاړو ته او د شپے

وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى

او په څه برخه کښے | د شپے | بیشکه نیکیانے | لرے کوی | بدیانے | دا | نصیحت دے

په څه برخه کښے د مونځ پابندی ساته، یقیناً نیکیانے بدئ ختموی ، دا نصیحت د منونکو د

لِلذّٰكِرِيْنَ ﴿١١٤﴾ وَاصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٥﴾

د نصیحت قبلونکو د پاره | او صبر کوه | پس بیشکه | الله | نه ضائع کوی | اجر | د نیکانو

پاره یو (جامع) نصیحت دے۔ او صبر کوه، الله تعالیٰ هیڅکله د نیکانو اجر نه ضائع کوی۔

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ اُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ

پس ولے نه شول | له هغه امتونو نه | چه وړاندې له تاسو نه وو | خاوندان د عقل | چه منع کول ئې خلق

نو داولے داسے ونه شوه چه ستاسو نه په وړومبو امتونو کښې داسے هوښیار خلق موجود وے چه خلق ئے

عَنِ الْفَسَادِ فِي الْاَرْضِ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا

له فساد کولو نه | په زمکه کښې | مګر | لږ | کوم ته چه | مونږ نجات ورکړو

په ملک کښې د فساد جوړولو نه منع کولے سوا د لږ خلقو نه کوم چه مونږ له دوی نه د عذاب نه بچ

مِنْهُمْ ۚ وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا

له دوی نه | او پیروی وکړه | هغو خلقو | چه ظالمان وو | د هغه څه چه آسودګی ورکړې شوې وه په هغې کښې | او هغه وو

کړل ، او کوم خلق چه ظالمان وو هغوی هم په کومو خبرو پسے شول په کومو کښې چه عیش آرام وو، او

مُجْرِمِيْنَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ

مجرمان | او نه دے | ستا رب (داسے) | چه هلاک کړی | کلی | په ظلم سره

هغوی ګناهګار وو۔ او ستا رب داسے نه دے چه کلی په ناحقه تباه کړی ،

وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿١١٧﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ

او خلق د هغې | اصلاح کوونکی وی | او که غوښتے | ستا رب | نو خامخا ئې کړی وو | خلق

په داسے حال کښې چه د هغې خلق د اصلاح کوشش کوی ۔ او که ستا د رب مرضی وے نو ټول بنیادم به ئے یو

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿١١٨﴾ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ

هم یو اُمت | او همیشه به وی | مختلف | مګر هغه څوک | په کوم چه رحم وکړو

اُمت کړے وُو ، خو دوی به اوس همیشه په اختلاف کښې پراته وی۔ مګر په چا چه ستا رب رحم

رَبُّكَ ؕ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ؕ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَاَمْلَئَنَّ

ستا رب | او هم د دے د پاره | دوی ئې پیدا کړل | او پوره شوه | خبره | ستا د رب | چه زه به ضرور ډک کوم

وکړی او هم د دے د پاره ئے دوی پیدا کړی دی ، او ستا د رب دا خبره پوره شوے ده ، چه زه به

جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿١١٩﴾ وَكُلًّا نَّقُصُّ

دوزخ | له پیریانو | او انسانانو نه | ټول په یو ځائے | او هر یو (خبر) | مونږ بیانوو

دوزخ د پیریانو او د بنیادمو ټولو نه ډک کړم ، او د پیغمبرانو په قصو کښې

عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ

تا ته | له خبرونو نه | د پیغمبرانو | چه مونږ قوی کړو | په هغې سره | ستا زړه

مونږ دا ټولے قصے تا ته (ځکه) اوروُو چه ستا زړه پرے مضبوط کړو ،

وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَّ ذِكْرٰى

او راغله ده تا ته | په دے کښې | حقه (خبره) | او نصیحت | او | یاد دهانی

او په دے (قصو) کښې تا ته حق او نصیحت او یادګیرنه د مؤمنانو د پاره

لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٢٠﴾ وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ط

دَ مؤمنانو دَ پاره | او ووایه | هغو خلقو ته | چه ایمان نهٔ راوړی | چه تاسو عمل کوئ | په خپل ځائے

راغلے ده. او څوک چه ایمان نهٔ راوړی هغوی ته ووایه چه تاسو په خپل ځائے عمل کوئ

اِنَّا عٰمِلُوْنَ ﴿١٢١﴾ لا وَانْتَظِرُوْا ج اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿١٢٢﴾ وَلِلّٰهِ

بیشکه مونږ (هم) | عمل کوو | او انتظار کوئ | بیشکه مونږ (هم) | انتظار کوو | او الله دَ پاره دے

مونږ به (په خپل ځائے) عمل کوو او (دَ انجام) انتظار کوئ، مونږ هم انتظار کوو او دَ آسمانونو او

غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ

(دَ) غیب (علم) | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | او دَ هغهٔ طرف ته | به رجوع کولے شی کارونه | ټول

زمکے غیب هم الله تعالیٰ ته معلوم دی، او هغهٔ ته به هره خبره واپس کیږی نو ته صرف

فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ط وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٣﴾ ع

پس عبادت کوه دَ هغهٔ | او توکل کوه | په هغهٔ | او نهٔ دے رب ستا | بے خبره | له هغه څهٔ نه | چه تاسو ئے کوئ.

دَ هغهٔ عبادت کوه او هم په هغهٔ باندې توکل ساته، او ستا رب ستاسو دَ کارونو نه غافله نهٔ دے.

سُوْرَةُ يُوْسُفَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّ اثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة یوسف مکی ده او په دې کښې | (شروع) دَ الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | ۱۱۱ ایتونه او دولس رکوع گانے دی

شروع کوم دَ الله په نوم سره چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿١﴾ قف اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا

الٓرٰ | دا | آیتونه دی | دَ کتاب | روښانه | بیشکه مونږ نازل کړو دا | قرآن

الٓرٰ دا دَ یو داسے کتاب آیتونه دی چه خپل مطلب صفا صفا ښائی. بیشکه مونږ دا قرآن په عربی ژبه

عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٢﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ اَحْسَنَ

په عربی کښے | چه تاسو | پوهه شئ. | مونږ بیانوو | تا ته | ډیر ښهٔ

کښے نازل کړے دے چه تاسو (پرے) ښهٔ پوهه شئ (اے پیغمبره دَ اسلام) مونږ دَ دے قرآن په ذریعه چه

الْقَصَصِ بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ صلے ق وَاِنْ

قصه | په دے وجه | چه مونږ وحی وکړه | ستا طرف ته | دَ دے | قرآن | او اگرچه

مونږ ستا طرف ته رالیږلے دے، تا ته یوه ډیره ښهٔ قصه اورؤو، او ته دَ دے

كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿٣﴾ اِذْ قَالَ يُوْسُفُ

ته وے | له دے نه وړاندې | له بے خبرو نه | هر کله چه ووئیل | یوسف

نه وړاندې یقیناً بے خبره وے. هر کله چه یوسف علیه السلام خپل پلار

لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ اِنِّىْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَّالشَّمْسَ

خپل پلار ته | اے پلاره! | بیشکه ما ولیدل | یولس | ستوری | او نمر

ته ووئیل چه اے بابا! ما یولس ستوری او نمر او سپوږمئ (په خوب کښے)

وَالْقَمَرَ رَاَيْتُهُمْ لِيْ سٰجِدِيْنَ ④ قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ

مه بیانوه | اے زما خویه! | ده وویل | چه دوی ما ته سجده کوی | ما دوی ولیدل | او سپوږمۍ

ولیدل، څه ګورم چه دا ټول زما په وړاندې ټیټ شوی دی. ده وویل اے زما خویه! دا خوب خپلو

رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ

شیطان | بیشکه | ستا (خلاف) څه چال | ګني دوی به وچلوی | خپلو وروڼو ته | خپل خوب

وروڼو ته مه اوروه، ګني (دغوی) د پاره به درته څه چل جوړ کړي. بیشکه شیطان

لِلْاِنْسَانِ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ⑤ وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ

او ویه ښائی تا ته | ستا رب | به غوره کړی تا | او هم دغه شان | ښکاره | دښمن دے | د انسان

د انسان ښکاره دښمن دے. او ستا رب به دغه شان تا غوره کړي، او تا ته به د

مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ

او د یعقوب په خاندان باندې | په تا باندې | خپل نعمت | او پوره به کړی | (د خوب) د خبرو | تعبیر بیانول

خوبونو د خبرو تعبیرونه ښائی. او په تا باندې او د یعقوب په خاندان باندې به خپل نعمتونه پوره کړي

كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ؕ

او اسحاق باندې | په ابراهیم | له دے نه وړاندې | ستا په پلار نیکه | پوره کړے ئے وو هغه | لکه چه

لکه څنګه چه هغه له دے نه وړاندې ستا پلار نیکه ابراهیم او اسحاق باندې پوره کړی وو،

اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ⑥ لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ

او د ده د وروڼو کښے | په قصه د یوسف کښے | بیشکه دی | د حکمت خاوند دے | پوهه | ستا رب | بیشکه

بیشکه ستا رب په هر څه پوهه د حکمت خاوند دے. بیشکه یوسف علیه السلام او د ده د وروڼو په قصه

اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ⑦ اِذْ قَالُوْا لَيُوْسُفُ وَاَخُوْهُ

د ده ورور | او | چه ضرور یوسف | هر کله چه دوی وویل | د سوال کوونکو د پاره | نخښے

کښے تپوس کوونکو د پاره نخښے دی. څه وخت چه دوی وویل چه یوسف علیه السلام او د ده (سکه)

اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا

زمونږ پلار | بیشکه | مونږ یو جماعت یو | او | له مونږ نه | زمونږ پلار ته | زیات خواږه دی

ورور زمونږ د پلار زمونږ نه زیات خوښ دی، حال دا دے چه مونږ خوځوره یو جماعت یو، بیشکه زمونږ پلار

لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنِۨ ⑧ ۚ اقْتُلُوْا يُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا

یو بل ځمکه کښے | یا وغورزوئ دے | یوسف | تاسو ووژنئ | ښکاره | په خطا کښے دے

په ښکاره غلطۍ باندې دے. (راځئ) یوسف ووژنئ یا ئے چرته یو بل ملک ته وغورزوئ

يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ⑨

نیکان خلق | پس له دے نه | او چه شئ تاسو | د پلار ستاسو | توجه | تاسو د پاره | چه خالی شی

نو د پلار مخه به درته یوازے شی، او له دے نه پس به تاسو ډیر ښه شئ.

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوْا يُوْسُفَ وَاَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ

دوئيل | يو ويونكي | له دوى نه | چه مه وژنئ | يوسف | او وغورځوئ دے | په تيارهٔ كښے

په هغوى كښے يو تن دوئيل چه يوسف مه وژنئ خو په يو شاړ كوهى كښے

الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ⑩ قَالُوْا

د كوهى | چه اُوچت كړى دے | څوك | مسافر | كه چرے | يئ تاسو | كوونكى | دوى دوئيل

ئے واچوئ چه څوك مسافر ئے وُباسى (او ځان سره ئے بوځى) كه تاسو (خامخا) څهٔ كول غواړئ، دوى دوئيل

يٰۤاَبَانَا مَا لَكَ لَا تَاْمَنَّا عَلٰى يُوْسُفَ وَاِنَّا لَهٗ

اے زمونږ پلاره! | څهٔ وُشو په تا | چه ته په مونږ اعتبار نهٔ كوے | د يوسف په باره كښے | او بيشكه مونږ | د دهٔ

اے زمونږ پلاره! دا په تا څهٔ چل دے چه د يوسف عليه السلام په حقله په مونږ اعتبار نهٔ كوے، سره د دے

لَنٰصِحُوْنَ ⑪ اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَاِنَّا لَهٗ

خير خواه يو | ته دے وُلېږه | مونږ سره | صبا ته | چه دے وُخورى | او لوبے وكړى | او بيشكه مونږ | د دهٔ

چه مونږ خو د هغهٔ خيرخواه يو. صباله ئے مونږ سره وُلېږه چه وُخورى (وُخنېى) او لوبے مشغولا وكړى او مونږ به

لَحٰفِظُوْنَ ⑫ قَالَ اِنِّيْ لَيَحْزُنُنِيْۤ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ

حفاظت كوونكى يو | (يعقوبؑ) دوئيل | بيشكه ما | غمګين كوى | دا چه تاسو بوځئ دے | او زهٔ وېرېږم

د دهٔ حفاظت كوو. يعقوب عليه السلام) دوئيل چه زهٔ په دے خفه يم چه تاسو دے (زما نه) بوځئ او ما سره وېره

اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ⑬ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ

چه دٔ به خورى دے | شرمخ | او تاسو به | له دهٔ نه | بے خبره يئ | دوى دوئيل | كه چرے وخورى دے

ده چه شرمخ به ئے درنه وُخورى او تاسو به ترے (په خپله مشغولا كښے) غافله شوى يئ. دوى دوئيل چه كه دے

الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّاۤ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ⑭ فَلَمَّا ذَهَبُوْا

شرمخ | او مونږ | يو (طاقتور) جماعت يو | بيشكه مونږ هغه وخت | نقصان مونده كى يو | بيا هر كله چه | دوى بوتلو

(راته) شرمخ وخورى او مونږ دومره لوئے ټولے موجود يو نو بيا خو مونږ ډير غورزيدلى سړى يو، نو هر كله چه

بِهٖ وَاَجْمَعُوْۤا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ وَاَوْحَيْنَاۤ اِلَيْهِ

هغه | او دوى اتفاق وكړو | چه واچوى دے | په تيارهٔ كښے | د كوهى | او مونږ وحى وكړه | دهٔ ته

هغه ئے بوتلو او پوخ نيت ئے وكړو چه هغه په يو شاړ كوهى كښے واچوى، او مونږ يوسف عليه السلام

لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ⑮ وَجَآءُوْۤ اَبَاهُمْ

چه ضرور به ته خبر وركړے دوى ته | د دوى د دے كار | او دوى به پېژنى هم نه | او دوى راغلل | خپل پلار ته

ته وحى وكړه چه يو ورځ به داسى چه ته به دوى ته دا خبره په ګوته كوے او دوى به (هغه وخت هم) پرے نهٔ پوهيږى او دوى خپل پلار ته

عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ⑯ قَالُوْا يٰۤاَبَانَاۤ اِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ

د ماسخوتن په وخت | چه ژړل ئے | دوى دوئيل | اے زمونږ پلاره! | مونږ خو | لاړو | چه منډے وځغلولے

په ماسخوتن كښے په ژړا راغلل، وُئے دوئيل چه اے زمونږ بابا! مونږ په خپل منځ كښے د منډو مقابله شروع كړه

وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُؤْمِنٍ

اوپریښودو موږ | یوسف | دَ خپل سامان سره | پس وخوړ هغه | شرمخ | او نه یې ته | یقین کوونکے

او موږ یوسف ؑ دَ خپل سامان سره پریښودو نو شرمخ (راغلو) او هغه ئے وخوړو او ستا زموږ په خبره یقین

لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ ﴿١٧﴾ وَجَاءُوا عَلَىٰ قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ

په موږ | اگرکه | یو موږ | رښتینی | او راوړے ئے ؤ | دَ پاسه دَ قمیص دَ هغه | وینه | دَ دروغو

نه راځي اگرکه موږ رښتینی یُو ، او دَ هغهٔ په قمیص باندې ئے دَ دروغو وینه لګولے راوړه

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ

وے فرمائیل | بلکه | له ځانه جوړ کړے دے | تاسو دَ پاره | ستاسو زړونو | یوه خبره | پس صبر | ښایسته دے | او دَ الله نه

یعقوب علیه السلام ووئیل چه نا بلکه دا تاسو له ځانه یوه خبره جوړه کړے ده ، پس هم صبر ښه دے او تاسو چه

الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾ وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا

مدد غواړم | په هغه څه چه | تاسو ئے بیانوئی | او راغله | یوه قافله | پس دوی ولیږلو

څهٔ وایئ نو په هغې کښې دِ الله نه زما امداد وکړی ۔ او (بل خوا) یوه قافله راغله ، نو دوی خپل یو اوبهٔ راوړونکے

وَارِدَهُمْ فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ ۖ قَالَ يَا بُشْرَىٰ هَٰذَا غُلَامٌ ۚ

خپل اوبهٔ راوړونکے | پس ده وغورزوله | خپله بوقه | وے وئیل | اے زیرے دے | دا (خو) | یو هلک دے

ولیږلو ده خپله بوقه ور وغورزوله ده ووئیل چه اے (ملګرو!) زیرے مو دربانږ داخو یو ښکلے هلک

وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَرَوْهُ

او دوی ئے پټ کړو | دَ تجارت مال ئے وګڼړلو | او الله | ښهٔ پوهه دے | په هغه څهٔ چه دوی کول | او دوی خرڅ کړو دے

را وختو او هغوی دے دَ تجارت په خیال پټ کړو، او الله تعالیٰ دَ هغوی په ټولو کارونو ښهٔ واقف وو ۔ او هغوی په ډیر

بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ ﴿٢٠﴾

په قیمت | لږ | په څو درهمو | شمیرلے شوو | او دوی وو | دَ ده په باره کښې | بیزاره ۔

لږ قیمت دَ شمیر په یو څو درهمو خرڅ کړو ، او هغوی دَ دهٔ په حقله (هسے هم) بیزاره وو

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ

او ووئیل | هغه چا | چه اخستے ئے وو دے | په مصر کښې | خپلې ښځې ته | په عزت سره او ساته دے | کیدے شی

او چا چه (یا) هغه په مصر کښې واخستو نو خپلې ښځې ته ئے ووئیل چه دَ دهٔ ډیر خیال ساته، کیدے شی

أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ

چه دے نفع راکړی موږ ته | یا موږ جوړ کړو دے | ځوئے | او دغه شان | موږ ځائے ورکړو | یوسف ته

چه دے موږ دَ پاره سُودمند ثابت شی یا موږ دے په ځوئے ونیسو او دغه شان موږ یوسف علیه اسلام له په دے

فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ

په زمکه (ملک) کښې | او چه موږ وښایُو دهٔ ته | تعبیر بیانول | (دَ خوب) دَ خبرو | او الله | غالب دے

ملک کښې ځائے ورکړو چه موږ دهٔ ته دَ خوب دَ خبرو تعبیر وښایو ، او الله تعالیٰ په خپل (هر)

الثلثة

ع ۲ ۱۲

عَلٰٓى اَمْرِهٖ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ

په خپل (هر) کار کښې | او لیکن | اکثر | خلق | نهٔ پوهیږي . | او هر کله چه | ورسید یوسف

کار کښې غالب دے ، خو اکثر خلق (په دے) نهٔ پوهیږي . او هر کله چه یوسف علیه السلام

اَشُدَّهٗٓ اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٢٢﴾

خپلے ځوانئ ته | نو ورکړو مونږ دهٔ ته | حکمت | او علم | او دغه شان | مونږ بدله ورکوو | نیکی کوونکو ته

خپلے ځوانئ ته ورسید و نو مونږ دهٔ ته حکمت او علم ورکړو او مونږ هم دغه شان نیکانو له بدله ورکوو .

وَرَاوَدَتْهُ الَّتِىْ هُوَ فِىْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ

او غلول وغوښتل دے | هغه ښځې | چه دے په کور د هغے کښې وو | د دهٔ د نفس (د حفاظت) نه | او هغے بند کړے

او د کوم ښځې کور کښې چه یوسف علیه السلام اوسیدو ، هغه د دے خپل طرف ته مائله کول غوښتل او ټول دروازے

الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّىْٓ

دروازے | او وئے وئیل | دے خواته راشه | دهٔ وئیل | پناه غواړم د الله | بیشکه هغه | زما مالک دے

لے بندے کړے او ورته ئے ووئیل چه راځه ، دهٔ ووئیل زهٔ په الله سره پناه غواړم ، بیشکه هغه زما مالک

اَحْسَنَ مَثْوَاىَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ

هغهٔ په ښهٔ شان | وساتلم زهٔ | بیشکه | نهٔ کامیابیږي | ظالمان خلق | او بیشکه اراده وکړه ښځې | د دهٔ

دے چا چه زهٔ په ښهٔ شان وساتلم او ظالمان په یقینًا نهٔ کامیابیږي . بیشکه هغه د دهٔ ته ورپاڅل شوه او یوسف

وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ؕ كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ

او اراده په کړې وه دهٔ | د دے ته | که چرته نه وے کتلے دهٔ | دلیل | د خپل رب | دغه شان | چه لرے وساتو مونږ

به هم ورولاړ شوے وو که د خپل رب دلیل ئے نهٔ وے لیدلے . داسے مکه وشو چه مونږ له دهٔ نه

عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٢٤﴾

له دهٔ نه | بدی | او بے حیائی | بیشکه دے | زما له بندګانو نه دے | چه خالص کړے شوی دی

بدکاری او بے حیائی لرے وساتو یقینًا دے زمونږ له مخلصانو بندګانو نه دے .

وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيْصَهٗ مِنْ دُبُرٍ وَّاَلْفَيَا

او دواړو منډے کړے | دروازے ته | او ښځې وشلولو | د دهٔ قمیص | له وروستو نه | او بیامونده دے دواړو

او دواړو د دروازے طرف ته منډه کړه او ښځې له وروستو نه د دهٔ قمیص وشلولو او دواړو د دے خاوند

سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ

خاوند د دے ښځې | دروازے سره | دے ووئیل | څهٔ سزا ده | د هغه چا | چه اراده وکړي | ستا ښځې سره

په دروازه (ولاړ) ولیدو . ښځې ووئیل چه څوک ستا ښځې سره د بد نیت اراده

سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِىَ رَاوَدَتْنِىْ

د بدکار | سوا | له دے نه چه دے قید کړے شي | یا (ورکړے شي) عذاب | دردناک | یوسف ووئیل | دے | وغلولم زهٔ

وکړي د هغهٔ سزا دے نه سوا نور څهٔ کیدے شي چه یا خو دے قید کړے شي یا ورله دردناکه سزا ورکړے شي . یوسف ووئیل دے زهٔ خپل

عَنْ نَّفْسِیْ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ كَانَ قَمِیْصُهٗ

دَ خپل ځان (دَحفاظت نه) | او ګواهي ورکړه | یو ګواه | دَ دې له خاندان نه | که چرې وي | دَ دهٔ قمیص

طرف ته مائل کول غوښتلم، او دَ ښځې دَ قبیلې نه یو ګواهي ورکونکي ګواهي ورکړه که چرې دَ یوسف قمیص دَ

قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكٰذِبِیْنَ ﴿۲۶﴾ وَاِنْ

شلیدلے | له مخې نه | نو دا به رښتینې وي | او دے به | له دروغژنو نه وي | او که چرے

وړاندې نه شلیدلے وي نو دا ښځه رښتینې ده او یوسف دروغژن دے . او که چرے

كَانَ قَمِیْصُهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ

وي | دَ دهٔ قمیص | شلیدلے | له وروستو نه | نو دا ښځه به دروغژنه وي | او دے به

دَ یوسف قمیص له وروستو نه شلیدلے وي نو دا ښځه دروغژنه ده او یوسف

مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۲۷﴾ فَلَمَّا رَاٰ قَمِیْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ

له رښتینو نه وي | بیا هرکله چې ولیدو | دَ دهٔ قمیص | شلیدلے | له وروستو نه | نو دهٔ وویل | بیشکه دا

رښتینے دے . بیا هرکله چه خاوند دَ یوسف قمیص دَ وروستو نه شلیدلے ولیدو نو وې ویل چه دا

مِنْ كَیْدِكُنَّ ؕ اِنَّ كَیْدَكُنَّ عَظِیْمٌ ﴿۲۸﴾ یُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ٚ

ستاسو دَ ښځو فریب دے | بیشکه | ستاسو فریب | ډیر لوئے دے | اے یوسف! | پرېږده | دا خبره

ستاسو دَ ښځو فریب دے بیشکه چه ستاسو فریبونه ډیر لوئے دي . اے یوسف! دا خبره شا ته وغورځوه،

وَاسْتَغْفِرِیْ لِذَنْۢبِكِ ۖۚ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕیْنَ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ نِسْوَةٌ

او معافي وغواړه ته | دَ خپلې ګناه | بیشکه هم ته یې | له خطا کارو نه | او وویل | ښځو

او اے ښځې! ته دَ خپلې ګناه معافي وغواړه ، بیشکه هم ته له ګناهګارانو نه یې . او په ښار کښې ښځو

فِی الْمَدِیْنَةِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ

په ښار کښې | چه دَ عزیز (دَ مصر) ښځه | غلول غواړي | خپل غلام | دَ دهٔ دَ نفس (دَحفاظت نه)

وویل چه (وګورئ!) دَ عزیز ښځه خپل غلام (په ناجائزه) خپل ځان طرف ته مائله کول غواړي

قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۳۰﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ

چه راښکیل کړې ئې ده دا | په خپل محبت کښې | بیشکه مونږ خو ګورو دا | په ښکاره ګمراهۍ کښې | بیا هرکله چه | واورېدو دے

دَ یوسف محبت (دَ دې په زړهٔ کښې) ځائے نیولے دے بیشکه مونږ دا په ښکاره غلطۍ کښې وینو . نو هرکله چه هغې دَ نورو

بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَیْهِنَّ وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ

دَ دوی دَ فریب خبرے | نو دې قاصد ولېږلو | دَ دوی طرف ته | او تیار کړے کړو | دوی دَ پاره | یو مجلس (ضیافت) | او ورکړه

ښځو دَ مکرونو دَ کے خبرې واورېدې نو هغوی ته (په دوی پسې) راوغوښتلې او هغوی دَ پاره ئې یو مجلس (ضیافت) تیار کړو او

كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّیْنًا وَّقَالَتِ اخْرُجْ عَلَیْهِنَّ ۚ

هر یوې ته | له هغوی نه | چاړهٔ | او دې وویل (یوسف ته) | ته راوځه | دَ دوی په وړاندې

په هغوی کښې هر یوې له (دَ میوو پریکولو دَ پاره) یوه یوه چاړهٔ ورکړه او یوسف ته ئې وویل چه د دې وړاندې مخامخ راووځه

ع ۳ / ۱۲

فَلَمَّا رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ

بیا هر کله چه | هغوی ښځو ولید لو دے | نو حیرانے شولے | او دوی پریکړل | لاسونه خپل | او وے ویل | پناه د الله

نو هر کله چه هغوی (یوسف) ولید و نو حیرانتیا ته شوے او خپل لاسونه (د حیرت د لاسه) پریکړل او وے ویل د الله پناه!

مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ الَّذِي

نه دے دا | انسان | نه دے | دا | مگر | فرښته | معززه | دے ووئیل | پس هم دا دے هغه چه

دا سړے بشر نه دے، دا خو بس یوه عزتمنده فرښته ده، د عزیز ښځې ووئیل دا هم هغه دے

لُمْتُنَّنِي فِيهِ وَلَقَدْ رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ فَاسْتَعْصَمَ

تاسو ما ملامته کوئ | په دے کښے | او بیشکه | ما وُغولولو دے | د ده د نفس (د حفاظت) نه | نو ده (خپل عزت) بچ کړو

د کوم په معامله کښے چه تاسو زه ملامته کوم او بیشکه ما دے خپل ځان ته راغوښتو، خو ده رانه ځان بچ کړو

وَلَئِنْ لَمْ يَفْعَلْ مَا آمُرُهُ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴿٣٢﴾

او که چرے | ونه کړو ده | څه چه زه وایم ده ته | نو ضرور به قید کړے شی دے | او ضرور به وی | د ذلیلو خلقو نه

او څه چه زه وایم که چرے ده ونه کړل نو یقیناً به دے قید کړے شی او ډیر بے عزته به شی.

قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ

ده ووئیل | اے زما ربه! | قید خانه | زیاته خوښه ده | ما ته | له هغه څه نه | کوم طرف ته چه دوی ما بلی

یوسف علیه السلام دُعا وکړه چه اے زما ربه! زما قید له تلل زیات خوښ دے نه کوم طرف ته چه دوی ما بلی

وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُنْ مِنَ

او که چرے ته نه لرے کوے | له مانه | د دوی فریب | نو زه به مائل شم | دوی ته | او شم به زه

او که چرے تا د دوی مکر وفریب له مانه منع نه کړو نو زه به د دوی طرف ته مائل شم او له جاهلانو نه

الْجَاهِلِينَ ﴿٣٣﴾ فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ إِنَّهُ

له جاهلانو نه | پس قبول کړه | د ده (دُعا) | د ده رب | پس لرے ئے کړو | له ده نه | د هغه (ښځو) مکر | بیشکه

به شم. پس الله تعالیٰ د ده دُعا قبوله کړه، او له ده نه ئے د دوی مکروفریب لرے کړو بیشکه

هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا رَأَوُا

هم هغه | آورېدونکے | پوهه دے | بیا | ښکاره شوه دوی ته | پس له هغه نه | چه ولیدلے دوی

الله تعالیٰ هر خبره آوری او په هر څه پوهه دے. بیا هم کله چه دوی تو لے نخښے ولیدلے نو دوی ته هم دا

الْآيَاتِ لَيَسْجُنُنَّهُ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٣٥﴾ وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ

نخښے | چه دے ضرور قید کښے واچوی | تر څه موده پورے | او داخل شول | ده سره | په قید خانه کښے

مصلحت ښکاره شو چه تر یوے مودے پورے د (یوسف) په قید کښے واچوی. او ده سره په قید خانه کښے دوه

فَتَيَانِ قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ

دوه ځوانان | ووئیل | یو له دے دواړو نه | بیشکه ما وُکتل | چه زه نچوړوم | شراب | او ووئیل

نور ځوانان داخل شول. په دوی کښے یو ووئیل چه زه خپل ځان (په خوب کښے) گورم چه شراب نچوړوم او بل

ع ۴ ۱۴

الْاٰخَرُ اِنِّیْۤ اَرٰىنِیْۤ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِیْ خُبْزًا تَاْكُلُ الطَّیْرُ مِنْهُ ؕ
بل | زهٔ په خوب کښې وينم | چه ما اوچته کړې دي | په خپل سر باندې | روټۍ | چه خوري | مارغان له هغه نه
وُو يُيل چه زهٔ گورم چه ما په سر باندې روټۍ اُوچتې کړې دي چه مارغان ترے نه (په ټوکوټوکو) خوراک کوي

نَبِّئْنَا بِتَاْوِیْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۳۶﴾ قَالَ
وښايه موږ ته | د دې تعبير | بيشکه موږ گورو تا ته | له نيکو کارو نه | وئې فرمائيل
موږ ته د دې تعبير وښايه، يقيناً ته موږ ته ښهٔ سړے ښکارې. يوسف عليه السلام وفرمائيل

لَا یَاْتِیْكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهٖۤ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا بِتَاْوِیْلِهٖ قَبْلَ اَنْ
نهٔ راځي تاسو ته | خوراک | کوم چه تاسو ته درکولے شي | مگر | زهٔ به وښايم تاسو ته | د دې تعبير | وړاندې له دې نه
چه تاسو له به خپل (مقرر) رزق لا نهٔ وي راغلے، چه زهٔ به د دے تعبير تاسو ته د هغې د راتلو نه وړاندې

یَّاْتِیَكُمَا ؕ ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِیْ رَبِّیْ ؕ اِنِّیْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ
چه هغه راشي تاسو ته | دا د هغه (علم) نه دے چه | ښودلے دے ما ته | زما رب | بيشکه ما پريښودلو | دين د هغه قوم
بيان کړم، دا په هغه علمونو کښې يو علم دے چه خپل رب ما ته راکړے دے. ما د هغو خلقو مذهب پريښے دے

لَّا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ هُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَ اتَّبَعْتُ
چه ايمان نهٔ راوړي | په الله | او دوی | د آخرت نه | منکر دي | او ما پيروي وکړه
چه په الله تعالیٰ ايمان نهٔ راوړي، او د آخرت (د ورځې) نه هم انکار کوي. او زهٔ د خپل

مِلَّةَ اٰبَآءِیْۤ اِبْرٰهِیْمَ وَ اِسْحٰقَ وَ یَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَاۤ
د دين | د خپلو پلارانو | ابراهيم | او اسحٰق | او يعقوب | نهٔ دي مناسب | موږ له
پلار نيکهٔ ابراهيم، اسحٰق او يعقوب (عليهم السلام) په مذهب چليږم. موږ سره دا نهٔ

اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَیْنَا
چه موږ شريک کړو | د الله سره | څهٔ څيز | دا دے | فضل د الله | په موږ باندې
ښائي چه موږ د الله تعالیٰ سره څهٔ څيز شريک کړو، دا د الله تعالیٰ په موږ باندې او په ټولو

وَ عَلَی النَّاسِ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَشْكُرُوْنَ ﴿۳۸﴾ یٰصَاحِبَیِ
او په ټولو خلقو باندې | ليکن | اکثر خلق | شکر نهٔ کوي | اے زما ملگرو!
خلقو باندې فضل دے، ليکن اکثر خلق (د هغهٔ) شکر نهٔ کوي. اے زما د قيدخانې

السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَیْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ
د قيدخانې | آيا معبودان | گڼ وډ | بهتر دي | يا الله | يو
ملگرو! آيا جُدا جُدا ډير معبودان ښهٔ دي يا الله چه يو او زبردست

الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اَسْمَآءً سَمَّیْتُمُوْهَاۤ
غالب | تاسو عبادت نهٔ کوئ | د هغهٔ نه سوا | مگر د څو نامو | چه ايښې دي تاسو هغه
دے. تاسو د الله تعالیٰ نه سوا صرف د داسے نومونو عبادت کوئ چه تاسو او ستاسو پلارانو

اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ

تاسو | او ستاسو پلارانو | چه نهٔ دے نازل کړے | الله | په هغې باندې | څهٔ دليل

دَ څان نه ايښي دي ـ (او) دَ کومو په حق کښې چه الله تعالیٰ هيڅ دليل نهٔ دے نازل کړے ـ

اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ ؕ

نهٔ دے حکم (دَ چا) | سوا دَ الله نه | هغهٔ حکم کړے دے | چه عبادت مهٔ کوئ | مګر | هم دَ هغهٔ

حکومت خو بس يوازے دَ الله تعالیٰ حق دے ، هغهٔ دا حکم کړے دے چه بے دَ هغهٔ نه دَ بل چا عبادت مهٔ کوئ

ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

دا دے | دين | نيغ (برحق) | ليکن | اکثر | خلق

هم دا درست دين دے ، ليکن اکثر خلق پرے نهٔ

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٤٠ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِىْ رَبَّهٗ

نهٔ پوهيږي | اے زما دَ قيد خانے ملګرو! | په تاسو دواړو کښے يو | څښوى به | خپل مالک ته

پوهيږي ـ اے زما دَ قيد خانے ملګرو! په تاسو کښے به يو خپل مالک ته شراب

خَمْرًا ۚ وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ

شراب | او کوم چه | دويم دے | نو هغه به په سولئ کړے شي | پس خوري به | مارغان

څښوى ، او پاتے شو بل نو هغه به پھانسي شي ، او مارغان به ترے نه دَ سر غوښے (په ټونګو

مِنْ رَّاْسِهٖ ؕ قُضِىَ الْاَمْرُ الَّذِىْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ۝٤١ وَقَالَ

دَ دهٔ له سر نه | فيصله وشوه | دَ هغه کار | دَ کوم په باره کښے | چه تاسو تپوس کوئ | او دے فرمائيل

تو ټکو خوري ، دَ هغے خبرے فيصله شوے ده ۰ دَ کوم په باره کښے چه تاسو تپوس کوئ او په هغو دواړو

لِلَّذِىْ ظَنَّ اَنَّهٗ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِىْ عِنْدَ رَبِّكَ ؗ

هغه کس ته (دَ کوم په نسبت) چه خيال دو | چه هغه به خلاص شي | له دے دواړو نه | زما ذکر وکړه | خپل مالک سره

کښے دَ کوم په نسبت چه يوسف خيال کړے وو چه خلاص به شي هغهٔ ته ئے فرمائيل چه ته خپل مالک ته زما ذکر وکړه

فَاَنْسٰىهُ الشَّيْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِى السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ ۝٤٢ ع ٥ ٧ ١٥

پس هير کړو دَ دهٔ نه | شيطان | ذکر کول خپل مالک ته | پس پاتے شو (يوسف) | په قيد خانه کښے | څو | کلونه

خو شيطان دَ هغهٔ نه دَ خپل مالک په وړاندې ياد دَول صفا هير کړلو نو يوسف عليه السلام څو کاله په قيد خانه کښے پاتے شو ـ

وَقَالَ الْمَلِكُ اِنِّىْٓ اَرٰى سَبْعَ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ

او ووئيل | بادشاه | بيشکه زهٔ | وينم | اووهٔ | غواګانے | څربے | چه خوري دوی

او بادشاه ووئيل چه زهٔ (په خوب کښے) وينم چه اووهٔ څربے غواګانے دی ، دوی له اووهٔ ماندهٔ

سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ؕ

اووهٔ (نرے) | ماندهٔ (غواګانے) | او اووهٔ | وږی | شنهٔ | او نور (اووهٔ) | اوچ

غواګانے خوري ، او اووهٔ شنهٔ وږی دي او اووه (۷) نور اوچ دي ـ

يٰۤاَيُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِیْ فِیْ رُءْيَایَ اِنْ كُنْتُمْ لِلرُّءْيَا

اے دربار یانو! | مانته تعبیر وښایئ | زما د خوب | که چرے | یئ تاسو | د خوب

اے دربار یانو! مانته د دے خوب تعبیر وښایئ که تاسو د خوبونو تعبیر ایستے

تَعْبُرُوْنَ ﴿٤٣﴾ قَالُوْۤا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۚ وَ مَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ

تعبیر ورکولئ | دوی ووئیل | (دا) پریشانه | خوب دے | او | نه یو مونږ | په تعبیر

شئ ۔ دوی ورته ووئیل چه دا هسے پریشان خوابي دی ، او مونږ د داسے خوبونو په تعبیرونو

الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِیْنَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ الَّذِیْ نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ

د خوبونو | عالمان | او وُوئیل | هغه کس | چه رها شوے وو | له دے دواړو نه | او یاد راغے هغه ته

نه پوهیږو ۔ او په دواړو (قیدیانو) کښے څوک چه رها شوے وو ، او ډیره موده پس ورته یاد

بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِيْلِهٖ فَاَرْسِلُوْنِ ﴿٤٥﴾ يُوْسُفُ اَيُّهَا

څه موده پس | زه به وُښایم تاسو ته | د دے تعبیر | پس ما وُلیږئ | اے یوسف ! | اے

شول هغه ووئیل چه زه به تاسو ته د دے تعبیر وښایم پس ما وُلیږئ اے یوسف ! اے

الصِّدِّيْقُ اَفْتِنَا فِیْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ

رښتیا ویونکیه ! | مونږ ته (د خوب تعبیر) وُښایه | چه اووه | غوا گانے | څربے | چه خوری دوی لره

رښتینیه ! مونږ ته (د یو خوب) تعبیر وُښایه چه اووه څربے غوا گانے دی او (نورے) اووه تش غوا گانے

سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۙ

اووه | ماندۀ (غوا گانے) | او اووه | وږی | شنه | او نور (اووه) | اوچ

ئے (نگیا دی) خوری او اووه شنه وږی دی ، او (ورسره) نور (اووه) اوچ وږی دی

لَّعَلِّیْۤ اَرْجِعُ اِلَی النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٦﴾ قَالَ

چه زه | واپس لاړ شم | د خلقو طرف ته | چه دوی | پوهه شی | دے فرمائیل

چه زه خلقو ته واپس ورشم ، شاید چه هغوی هم پوهه شي ۔ یوسف علیه السلام ووئیل

تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ

تاسو به کرونده کوئ | اووه | کاله | پرله پسے | بیا څه چه | تاسو لو کړئ | نو پریږدئ هغه

چه تاسو به اووه کاله پرله پسے مزکے کرئ ، نو چه کوم فصلونه وُریبئ نو هغه په وږو کښے

فِیْ سُنْۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ

په خپلو وږو کښے | مگر | لږ | له هغه څه نه | چه تاسو ئے خورئ | بیا به راشي | پس

(پټ) پریږدئ خو لږ مقدار کوم چه تاسو خورئ (هغه ترے وریژدئ) بیا به ورپسے اووه (د سوکړے)

ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ

له دے نه | اووه (کاله) | سخت | چه دوی به وخوری | څه چه | تاسو وړاندې نه (جمع کړی) ایښی وی | د هغه کالونو له

سخت کلونه راشي چه هغه هر څه به وخوری چه تاسو د هغوا نه جمع کړی وی

اِلَّا قَلِیْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ﴿۴۸﴾ ثُمَّ یَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

سوا د لږ (غلې) نه | چه تاسو به ئې بېچ کوئ | بیا به راشي | وروستو | له دے نه

مګر لږ مقدار چه تاسو (تخم ونوله) ساتلے وی ، بیا به وروسته د دے کال راشي چه

عَامٌ فِیْهِ یُغَاثُ النَّاسُ وَفِیْهِ یَعْصِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَقَالَ

یو (داسے) کال چه په هغه کښے | به باران وی | په خلقو | او په هغه کښے به | دوی (د میوو رس) نچوړوی | او ووئیل

چه په خلقو به ډیر باران نه وورېږی او هغوی به (د انګورونو) شیرے نچوړوی او بادشاه

ع ۷ ۱۶

الْمَلِكُ ائْتُوْنِیْ بِهٖ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ

بادشاه | چه راولئ ما ته هغه | بیا هر کله چه راغے ده ته | قاصد (د بادشاه) | یوسف ووئیل | واپس لاړ شه

ووئیل چه داسړے ماله راولئ ، بیا هر کله چه قاصد ده ته راغے نو یوسف علیه السلام ووئیل چه خپل مالک

اِلٰی رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِیْ قَطَّعْنَ

خپل مالک ته | پس له هغه نه تپوس وکړه | څه حال دے؟ | د هغو ښځو | کومو چه | پرے کړی وو

ته واپس لاړ شه او د هغه نه تپوس وکړه چه د هغو ښځو څه معامله ده کومو چه خپل لاسونه

اَیْدِیَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّیْ بِكَیْدِهِنَّ عَلِیْمٌ ﴿۵۰﴾ قَالَ مَا

خپل لاسونه | بیشکه | زما رب | د دوی د مکرونه | ښه واقف دے | (بادشاه) ووئیل | څه

پرے کړی وو بیشکه زما رب د هغوی په فریبونو ښه واقف دے . بادشاه (هغه ښځو ته) ووئیل

خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ یُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ قُلْنَ حَاشَ

حال دے ستاسو | کله چه | تاسو غلول وغوښتل | یوسف | د هغه د نفس (له حفاظت) نه | دوی ووئیل | پناه

دا ستاسو څه واقعه وه څه وخت چه تاسو یوسف (علیه السلام) د خپل مطلب د پاره غلولو؟ هغوی ووئیل د الله تعالیٰ

لِلّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَیْهِ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ

د الله | مونږ نه ده موندلے | په هغه کښے | څه بدی | ووئیل | ښځے | د عزیز

پناه مونږ په هغه کښے هیڅ بدی و نه لیدله ، د عزیز ښځے ووئیل چه اوس

الْـٰٔنَ حَصْحَصَ الْحَقُّ ؗ اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ

اوس | ښکاره شوه | حقه (خبره) | ما هغه غلول وغوښتل | د هغه د نفس (له حفاظت) نه

خو رښتیا هر چا ته (ښه هم) څرګند شو ، هغه زه وم چه هغه م د هغه د نفس (د حفاظت) نه

وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۵۱﴾ ذٰلِكَ لِیَعْلَمَ اَنِّیْ لَمْ

او بیشکه هغه | له رښتیا ویونکو نه دے | دا | د پاره دے چه ده ته پوهه شي | چه بیشکه ما | نه دے

غلولے وو او هغه بیشکه چه رښتینے دے (یوسف ووئیل) دا م ځکه وکړل چه عزیز ته په ښه شان معلومه شي

اَخُنْهُ بِالْغَیْبِ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِیْ كَیْدَ الْخَآئِنِیْنَ ﴿۵۲﴾

کړے خیانت د هغه | پټے شا | او دا چه الله | نه چلوی | فریب | د خیانت کوونکو -

چه ما د هغه نه شا په شا هیڅ خیانت نه دے کړے او الله تعالیٰ د خیانت کرو فریبونه هیڅ کله سر ته نه رسوی .

القرآن الکریم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانہ ترجمہ

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ

اوزۀ بری نۀ ګڼم | خپل نفس | بیشکه | نفس | ضرور حکم کوونکے دے | د بدئ

اوزۀ خپل ځان ته بیګناه نۀ وایم ولے چه نفس خو بنده ته بد بے لارے چارے ښائی

إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥٣ وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ

مګر په چا چه رحم وکړی | زما رب | بیشکه زما رب | بخښونکے | مهربان دے | او ووئیل | بادشاه

خو په کوم (نفس) چه زما رب رحم وکړی بیشکه زما رب بخښونکے مهربان دے ، او بادشاه ووئیل

ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ

راولئ ماله هغه | چه زۀ خاص کړم هغه | د خپل ذات دپاره | بیا هرکله چه | هغه ورته خبرے وکړے | ووئیل دۀ | بیشکه ته

هغه ماله راولئ چه زۀ ئے خاص خپل کار له وساتم نو هرکله چه ئے ورسره خبرے وشوے نو ورته ئے ووئیل

ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ٥٤ قَالَ ٱجۡعَلۡنِي

نن ورځ | مونږ سره | عزتمند | امانتدار یئے | (یوسف ؑ) ووئیل | مقرر کړه ما

چه ته د نن نه زما په دربار کښے عزتمند او معتبر شوے ، یوسف علیه السلام ورته ووئیل چه ما د وطن په

عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ٥٥ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا

په خزانو | د زمکے | بیشکه زۀ | حفاظت کوونکے | پوهه یم | او دغه شان | مونږ ځائے ورکړو

خزانو باندے مقرر کړه ، بیشکه زۀ ښه محافظ یم او د دے کار نه پوره واقف یم ۔ او دغه شان مونږ یوسف ؑ

لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُۚ نُصِيبُ بِرَحۡمَتِنَا

یوسف ته | په زمکه کښے | دے به اوسیدو | هغه ځائے | کوم ځائے چه | دۀ غوښتل | مونږ رسوو | خپل رحمت

د (مصر د) ملک اختیارمند کړو چه کوم ځائے ئے زړۀ غوښتو هلته به اوسیدو ، مونږ چاله چه وغواړو خپل رحمت

مَن نَّشَآءُۖ وَلَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٦ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ

چا ته چه | مونږ غواړو | او مونږ نۀ ضائع کوو | اجر | د نیکانو | او اجر | د آخرت | ډیر ښۀ دے

رسوو ، او مونږ نیکو خلقو بدله (هیچرے) نۀ ضائع کوو او د آخرت بدله ډیره ښۀ ده

لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٥٧ وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ

ع ۷ هغو خلقو دپاره | چه ایمان راوړی | او پرهیزګاری ئے کوله | او راغلل | ورونړه | د یوسف

هغو کسانو له چه ایمان ئے راوړے وی او پرهیزګار اوسیږی او د یوسف علیه السلام ورونړه هم (مصر ته) راغلل

فَدَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ٥٨ وَلَمَّا

پس داخل شول | په دۀ | پس دۀ وپیژندل دوی لره | او دوی | هغه | نۀ پیژندو | او هرکله چه

او تر هغۀ ورسیدل ، نو هغۀ وپیژندل او هغوی دے ونۀ پیژندے شو او هرکله چه

جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ

هغه تیار کړو د دوی دپاره | د دوی سامان | نو ووئیل دۀ | راولئ ماله | ورور ستاسو | چه ستاسو د پلار نه دے

یوسف علیه السلام هغوی له سامان تیار کړو نو ورته ئے ووئیل تاسو خپل پلار نه (میرنی) ورور هم ماله راولئ

أَلَا تَرَوْنَ أَنِّيٓ أُوفِي ٱلْكَيْلَ وَأَنَا۠ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ۝٥٩ فَإِن

آیا نه وینئ تاسو | چه زه پوره ورکوم | پیمانه | او زه | ډیر ښه | میلمستیا درکوونکے یم | بیا که چیرے

تاسو نه ګورئ چه زه پوره پیمانه ورکوم او ښه پوره میلمستیا درکوم ، که چیرے تاسو هغه

لَّمْ تَأْتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِي وَلَا تَقْرَبُونِ ۝٦٠ قَالُوا۟

دانه وستلو تاسو ماله | هغه | نو څه پیمانه (غله) نشته | تاسو له | ما سره | او ما ته رانږدے کیږئ مه | دوی ووئیل

ماله رانه وستلو نو تاسو ته به زما له طرف نه غله نه ملاویږی او نه به زما خوا ته رانږدے کیږئ ، هغوی ووئیل

سَنُرَٰوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ۝٦١ وَقَالَ لِفِتْيَٰنِهِ ٱجْعَلُوا۟

موږ به خواهش وکړو | د ده په حقله | د ده د پلار نه | او بیشکه موږ | خامخا دا کار کوونکی یو | او ده ووئیل | خپلو خادمانو ته | چه تاسو کیږدئ

چه موږ به ئے د پلار نه وغواړو او دا کار به ضرور کوو . یوسف علیه السلام خپلو خادمانو ته ووئیل چه د دوئ ادا

بِضَٰعَتَهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ

د دوئ پانګه | د دوئ په سامان کښے | چه دوی | هغه وپیژنی | هرکله چه دوی واپس شی | خپلو خلقو طرفته

کړے قیمت د دوئ په سامان کښے (پټ) کیږدئ شاید چه خپلو خپلوانو ته واپس ورسی نو وئے پیژنی ، او

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ۝٦٢ فَلَمَّا رَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيهِمْ قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَا

د پاره د دے چه دوی | دوباره راشی | پس هرکله چه | دوئ واپس راغلل | خپل پلار ته | نو وئے ووئیل | اے زموږ پلاره

شاید چه په دے وجه واپس راشی ، نو هرکله چه هغوئ خپل پلار ته واپس ورسیدل نو وئے ووئیل چه اے زموږ پلاره!

مُنِعَ مِنَّا ٱلْكَيْلُ فَأَرْسِلْ مَعَنَآ أَخَانَا نَكْتَلْ

(ئے شوه) بنده کړے شوه له موږ نه | پیمانه (غله) | پس ولیږه | موږ سره | زموږ ورور | چه موږ پیمانه (غله) راوړو

په موږ بیا د پاره غله بنده شوے ده . نو زموږ ورور راسره ولیږه چه غله راوړو ،

وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝٦٣ قَالَ هَلْ ءَامَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَآ

او بیشکه موږ | د ده | حفاظت کوونکی یو | دے فرمائیل | آیا زه په تاسو اعتبار وکړم | د ده په حقله | مګر | څنګه چه

او موږ به د هغه ډیر خیال ساتو . یعقوب ووئیل چه آیا زه د ده په حقله په تاسو باندے هغه شان اعتبار وکړم

أَمِنتُكُمْ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ۖ فَٱللَّهُ خَيْرٌ حَٰفِظًا ۖ وَهُوَ

ما اعتبار کړے وو په تاسو | د ده د ورور په حقله | له دے نه وړاندے | پس الله | ډیر ښه | محافظ دے | او هم هغه

لکه چه له دے نه وړاندے مے د ده د ورور (یوسف) په حقله درباندے کړے وو ، خو هم الله تعالیٰ ډیر ښه محافظ دے او هغه

أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ۝٦٤ وَلَمَّا فَتَحُوا۟ مَتَٰعَهُمْ وَجَدُوا۟ بِضَٰعَتَهُمْ

د ټولو نه زیات رحم کوونکے دے | او هرکله | چه دوی پرانستلو | سامان خپل | نو بیا موندله دوی | خپله نغدی

د ټولو نه زیات مهربان دے . او هرکله چه هغوئ خپل سامان پرانستلو نو خپله نغدی ئے بیا موندله کومه

رُدَّتْ إِلَيْهِمْ ۖ قَالُوا۟ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبْغِي ۖ هَٰذِهِۦ بِضَٰعَتُنَا

چه واپس کړے شوے وه | دوی ته | دوی ووئیل | اے زموږ پلاره! | څه غواړو موږ نوره | دا ده | زموږ پانګه

چه ورته واپس شوے وه ، هغوئ ووئیل اے بابا! موږ له نور څه غواړو؟ دا ده زموږ نغدی هم

رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ وَنَمِيرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ اَخَانَا

چه واپس کړے شوے ده | موږ ته | او موږ به غله راوړو | خپلو خلقو د پاره | او موږ به حفاظت کوو | د ورور خپل

موږ ته واپس شوے ده او موږ به د خپل کور والو د پاره نوره غله راوړو او د خپل ورور حفاظت به کوو

وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ۗ ذٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهُ

او موږ به زیاته راوړو | غله | (یو بار) د اوښ | دا | پیمانه (غله) | آسانه ده | وئے فرمائیل | هیچرے کله به ونهٔ لیږم دے

او د یو اوښ بار به زیاتی راوړو ، دا یو اوښ غله به ډیره په آسانه ملاؤ شی ، یعقوب علیه السّلام ووئیل زهٔ به

مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖ

تاسو سره | تر دے چه | تاسو راکړئ ماته | پخه وعده | د الله | چه تاسو به خامخا راولئ ماله | دے

هیڅ کله دے تاسو سره ونهٔ لیږم تر څو چه تاسو ماله د الله تعالی په نوم پوخ قول رانهٔ کړئ چه ماله به خامخا واپس راوسوئ

اِلَّآ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى

مګر دا چه | راګیر شئ | تاسو | بیا هر کله چه | دوی ورکړله ده ته | خپله پخه وعده | نو وئے فرمائیل | الله | په هغه خبره

البته دا چه تاسو ټول په خپله چرته راګیر شئ ۔ نو هر کله چه هغوئی پوخ قول ورکړو نو یعقوب وفرمائیل چه موږ څهٔ

مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٦٦﴾ وَقَالَ يٰبَنِیَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ

چه موږ ئے کوو | ضامن دے | او وئے وئیل | اے زما ځامنو! | مه داخلیږئ تاسو | له یوے دروازے نه

دا یو الله تعالی ذمے ضامن دے او هغهٔ ووئیل چه اے زما ځامنو! تاسو هم د یوے دروازے نه مهٔ داخلیږئ ۔

وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ۗ وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

او داخل شئ | له جدا جدا دروازو نه | او زهٔ نهٔ شم دفع کولے | له تاسو نه | له حکم د الله نه

بلکه په جدا جدا دروازو ورننوځئ ۔ او زهٔ د الله تعالی د څهٔ فیصلے نه تاسو بیچ کولے

مِنْ شَیْءٍ ۗ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ۗ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَيْهِ

هیڅ څیز | نشته دے حکم | مګر صرف | د الله | هم په ده | ما توکل وکړو | او هم په ده

نهٔ شم ، به د هغهٔ نه د بل هیچا حکم نهٔ چلیږی ، په هغهٔ م توکل دے او څوک چه توکل کوی نو صرف

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ

توکل کول پکار دی | توکل کوونکو له | او هر کله چه دوی داخل شول | کوم ځائے نه چه | حکم ورکړے وو دوی ته | د دوی پلار

په هغهٔ دِ توکل کوی ، او هر کله چه هغوی ورننوتل کوم ځائے نه چه دوی ته د دوی پلار حکم ورکړے

مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ اِلَّا حَاجَةً

ده نهٔ شو بیچ کولے | دوی | د الله (د تقدیر) نه | لږ هم | مګر | یو خواهش وو

وو ، د خدائے په مقابله کښے هیڅ تن بیر هم د هغوئی په کار رانغلے نهٔ شو دا خو د یعقوب علیه السلام

فِیْ نَفْسِ يَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ۚ وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ

د یعقوب په زړه کښے | کوم چه ده پوره کړو | او بیشکه هغه | خاوند د علم وو | د هغه څهٔ | چه موږ ده ته ښودلے وو

په زړهٔ کښے یو ارمان وو چه هغهٔ پوره کړو او هغه د علم خاوند وو ځکه چه موږ ورته علم ورکړے وو ۔

ع ۸ ۲

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۟ (۶۸) وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ

او ليکن | اکثر | خلق | نه پوهيږي | او هر کله چه | دوی داخل شول | په يوسف

خو اکثر خلق (په دے حقيقت) نه پوهيږي ، او هر کله چه هغوی يوسف عليه السلام ته ورننوتل نو هغه

اٰوٰۤى اِلَيْهِ اَخَاهُ قَالَ اِنِّىْۤ اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَىِٕسْ بِمَا

نو ده ځان ته ورکړو ځاے | خپل ورور ته | ده ووئيل | بيشکه هم زه | ستا ورور يم | پس مه خفه کيږه | په هغه

خپل سکه ورور له ځان سره ځاے ورکړو او ورته ئے ووئيل چه هم زه ستا ورور (يوسف) يم ، نو ته د دوی په کار و نو

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۶۹) فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ

چه دوی به کول | بيا هر کله چه | تيار کړو ده دوی له | د دوی سامان | نو ده کيښوده | پياله

مه خفه کيږه - نو هر کله چه ئے د هغوی سامان تيار کړو نو خپله پياله ئے د خپل (سکه) ورور

فِىْ رَحْلِ اَخِيْهِ ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ (۷۰)

د خپل ورور په سامان کښے | بيا آواز وکړو | يو آواز کوونکي | اے قافلے والو! | بيشکه تاسو | خامخا غله يئ

په سامان کښے کيښوده ، بيا يو منادی اواز وکړو چه اے د قافلے خلقو! تاسو غله يئ -

قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ (۷۱) قَالُوْا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ

دوی ووئيل | او را مخ شول | د دوی طرف ته | څه دی چه تاسو ئے ورک شوی دی؟ | دوی ووئيل مونږ ئے ورک شوے | پيمانه | د بادشاه

هغوی ووئيل او ورپسے (په کلکه) راوړاندے شول چه تاسو څه ورک شوی دی؟ هغوی ووئيل چه زمونږ نه د بادشاه پيمانه

وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ (۷۲) قَالُوْا تَاللّٰهِ

او د پاره د هغه چا چه راوړي دا | يو بار د اوښ دے | او زه د دے | ذمه وار يم | دوی ووئيل | قسم په الله

ورک شوے ده او چا چه راپيدا کړه هغه له به د يو اوښ بار (غله) ورکړے شي او زه د دے (انعام) ذمه وار يم هغوی ووئيل د الله قسم

لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ (۷۳)

تاسو ته ښه معلومه ده | مونږ نه يو راغلي | چه مونږ فساد وکړو | په زمکه کښے | او نه مونږ يو | غله

چه تاسو ته ښه معلومه ده چه مونږ دلته په فساد پسے نه يو راغلي او نه مونږ غله يو -

قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ (۷۴) قَالُوْا جَزَآؤُهٗ

دوی ووئيل | پس څه سزا ده د هغه | که چرے يئ تاسو | دروغژن | دوی ووئيل | سزا د هغه (دا ده)

هغوی ووئيل که چرے تاسو دروغژن ثابت شوئ نو بيا به د دے څه سزا وي؟ هغوی ووئيل چه د هغه سزا دا ده

مَنْ وُّجِدَ فِىْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِى

(چه) د چا په سامان کښے هغه (پيمانه) بيا مونده شوه | پس هم هغه (سړے) | د دے بدله ده | دغه شان | مونږ سزا ورکوو

چه د چا په سامان کښے پيمانه راووځي نو هغه تن دے په خپله د ځان په بدله کښے ايسار کړے شي ، مونږ مجرمانو له هم دغه

الظّٰلِمِيْنَ (۷۵) فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ ثُمَّ

ظالمانو ته | پس شروع کړه (تلاشي) | د دوی د سامانونو | د مخه | د خپل ورور د سامان نه | بيا

شان سزا ورکوو ، نو د خپل ورور د بوجۍ نه وړاندے ئے د هغوی د بوجو (تلاشي) شروع کړه ، بيا ئے

اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَاءِ اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ لِيَاْخُذَ

ئې را اُوویسته هغه | د خپل ورور د بوړۍ نه | دغه شان | مونږ تدبیر وکړو | یوسف د پاره | دا نه شو اخستلے

د خپل (سکه) ورور د بوړۍ نه (پیالۍ) راوُبکله دغه شان مونږ یوسف د پاره تدبیر وکړو ، هغه خپل ورور د بادشاه

اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ

خپل ورور | د هغه بادشاه د قانون مطابق | مګر دا چه | وغواړي | الله | مونږ اُوچتوو | درجے | د چا چه

(مصر) په قانون کښے اخستے نه شو مګر دا چه هم الله تعالیٰ منظور وه ، مونږ چه د چا وغواړو ، درجے ئې

نَّشَآءُ ؕ وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۶﴾ قَالُوْٓا اِنْ يَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ

مونږ وغواړو | او د پاسه | د هر خاوند د علم | یو لوئے علم والا دے | دوئ ووئیل | که چرے دا غلا کړے دے | نو غلا کړے ده

اُوچتے کړو ، او د هر عالم د پاسه بل لوئے عالم شته - هغوئ ووئیل که (دے) دا غلا وکړه نو بیخو دا د دهٔ سکه

اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ فَاَسَرَّهَا يُوْسُفُ فِيْ نَفْسِهٖ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ

د دهٔ ورور هم | له دے نه وړاندې | پس پټه وساتله دا | یوسف | په خپل زړهٔ کښے | او ښکاره ئې نه کړه | دوی ته

ورور هم غلا کړے وه ، نو یوسف علیه السلام دا خبره په زړهٔ کښے واچوله او هغوئ ته ئې څرګنده نه کړه

قَالَ اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوْا

ئې ووئیل (زړهٔ کښے) | تاسو | ډیر بد یئ | په درجه کښے | او الله | ښهٔ پوهه دے | په هغه څه چه تاسو ئې بیانوئ | دوئ ووئیل

ورته ئې ووئیل چه تاسو ډیر خراب خلق یئ او څهٔ چه تاسو بیانوئ الله تعالیٰ په هغے ښهٔ پوهه دے . هغوئ ووئیل

يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ اِنَّ لَهٗٓ اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا مَكَانَهٗ ۚ

اے عزیزه! | بیشکه د دهٔ | پلار دے | بوډا | د ډیر عمر | پس ونیسه | یو له مونږ نه | د دهٔ په ځائے

اے عزیزه! بیشکه د دهٔ پلار ډیر بوډا دے ، نو د دهٔ په ځائے مونږ کښے یو تن ونیسه

اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۷۸﴾ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ

بیشکه مونږ وینو تا | له نیکانو نه | دهٔ ووئیل | د الله پناه غواړم | چه زهٔ به ونیسم | سوا د دهٔ نه

مونږ دې وینو ګورو چه ته ډیر ښهٔ سړے یئ . هغهٔ ووئیل د الله تعالیٰ پناه چه بل څوک را ونیسم خو بس هغه

وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗٓ ۙ اِنَّآ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا اسْتَيْئَسُوْا

چه مونده ئې مونږ | خپل سامان | د دهٔ سره | بیشکه مونږ به | هغه وخت | خامخا ظالمان یو | بیا هر کله چه | نا امیده شول دوی

څوک چه ورسره مو خپل څیز موندلے دے کنی نو بیا خو به مونږ په ظالمانو کښے شمېر شو نو هر کله چه دوی د هغه (یوسف)

مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ؕ قَالَ كَبِيْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنَّ اَبَاكُمْ

له هغهٔ نه | نو ځان له شول دوئ | مشورے د پاره | ووئیل | مشر د دوی | آیا نهٔ | پوهیږئ تاسو | چه ستاسو پلار

نه مایوسه شول نو د مشورے د پاره ځان له شول ، په دوئ کښے مشر ووئیل چه آیا تاسو ته معلومه نهٔ ده چه پلار

قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ۚ

اخستے دے | له تاسو نه | پخه وعده | د الله | او له دے نه وړاندې | چه قصور کړے تاسو | د یوسف په حقله

درنه په قسمونو پوخ لوظ اخستے دے او له دے نه وړاندې تاسو د یوسف په حقله هم قصور کړے دے

فَلَنْ أَبْرَحَ الْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِي أَبِي أَوْ يَحْكُمَ اللَّهُ لِي ۖ

پس زۀ به هيڅکله نۀ پرېږدم | دا زمکه | تر هغه وخته پورې چه | اجازت راکړي ما ته | زما پلار | يا فيصله وکړي | الله ما دپاره

نو زۀ خو دا ملک نۀ پرېږدم تر څو چه پلار را ته اجازت را نۀ کړي يا الله زما په حقله فيصله و نۀ کړي

وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿٨٠﴾ ارْجِعُوا إِلَىٰ أَبِيكُمْ فَقُولُوا يَا أَبَانَا

او هغه | د ټولو نه بهتر | فيصله کوونکے دے | تاسو واپس لاړ شئ | خپل پلار ته | پس ووايئ | اے زمونږ بابا

او هم هغه ډېر بهتر فيصله کوونکے دے۔ تاسو خپل پلار ته پسته لاړ شئ نو ورته ووايئ چه اے بابا!

إِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدْنَا إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ

بېشکه ستا ځوئ | غلا وکړه | او مونږ ګواهي ورنه کړه | مګر | څۀ چه مونږ ته معلوم وو | او مونږ نۀ وو | د غيبو

ستا ځوئ غلا کړے ده ، او مونږ د خپل علم مطابق ګواهي ورکړے ده ، او مونږ ته د غيبو هيڅ

حَافِظِينَ ﴿٨١﴾ وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا وَالْعِيرَ

حفاظت کوونکي | او تپوس وکړه | د کلي (د خلقو) نه | چه وو مونږ په هغې کښې | او له هغه قافلې نه

خبر نۀ وو او په کوم کلي کښې چه مونږ ديره وو د هغه ځائے د خلقو نه تپوس وکړه او د هغې قافلې والو نه

الَّتِي أَقْبَلْنَا فِيهَا ۖ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٨٢﴾ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ

چه مونږ راغلو په هغې کښې | او بېشکه مونږ | رښتينې يُو | (يعقوبؑ) ووئيل | (نا) بلکه | بنا ئسته کړے دے تاسو ته

چه مونږ ورسره (په ملګرتيا کښې) راغلي يُو او مونږ بالکل رښتينې يُو۔ يعقوب عليه السلام ووئيل نا بلکه دا خو تاسو ته

أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ۚ

زړونو ستاسو | يو کار | پس (هم) صبر ډېر ښۀ دے | اُميد دے | چه الله به | را ولي ما ته | دوي ټول

خپلو نفسونو يوه خبره بنائسته کړے ده نو هم صبر ډېر ښۀ دے ، کيدے شي چه الله تعالیٰ دا ټول ما ته واپس را ولي

إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿٨٣﴾ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا أَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ

بېشکه هم هغه | پوهه | د حکمت خاوند دے | او مخ ئې واړولو | له دوي نه | او دې وئيل | هائے افسوس! | په يوسف باندې

هغه په هر څۀ پوهه د حکمت خاوند دے او يعقوبؑ د هغوئي نه مخ واړولو او دې ووئيل چه هائے افسوس! په يوسف

وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٨٤﴾ قَالُوا تَاللَّهِ تَفْتَأُ

او سپينې شوے | دواړه سترګې د دۀ | له غم نه | او هغه | ډېر خفه دلګير وو | دوئ ووئيل | قسم په الله | ته خو هميشه

باندې او د غم (په ژړا ژړا) ئې سترګې سپينې شوے او هغه به خفه دلګير (ناست) وو خامخا ئې ووئيل د الله قسم ته به

تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوْ تَكُونَ مِنَ الْهَالِكِينَ ﴿٨٥﴾

ياد وے | يوسف | تر دے چه | ته شے | بيمار | يا شے ته | له هلاکيدونکو نه

تل د يوسفؑ په ياد کښې اخته يې ، تر دے چه ځان به ورپسے رنځور کړے يا به هلاک او مړ شے۔

قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ

دۀ ووئيل | بېشکه چه | زۀ بيانوم | خپل خفګان | او خپل غم | الله ته | او زۀ پوهېږم | د الله د طرف نه

هغۀ ووئيل چه زۀ خو صرف د الله تعالیٰ په وړاندې خپله بے قراري او خپل غم بيانوم او زۀ د الله تعالیٰ د طرف نه په هغو

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٦﴾ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ

پہ حقہ څہ چہ تاسو نہ پوهیږئ | اے زما ځامنو! | لاړ شئ | پس لټون وکړئ | د یوسف | او د دهٔ د ورور

خبرو پوهیږم چه تاسو پرې نه پوهیږئ ۔ اے زما ځامنو! ځئ لاړ شئ او د یوسفؑ او د هغهٔ د ورور (بنیامین) لټون

وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا

او مهٔ نا اُمیده کیږئ | د الله د رحمت نه | بیشکه چه نهٔ نا اُمیدا کیږی | د الله د رحمت نه | مګر

وکړئ او د الله تعالیٰ د رحمت نه مهٔ مایوسه کیږئ ، د الله تعالیٰ د رحمت نه خو صرف کافران خلق

الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٧﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ قَالُوْا يٰۤاَيُّهَا الْعَزِيْزُ

قوم | د کافرانو | بیا هر کله چه دوی داخل شول | د هغهٔ په وړاندې | نو دوئ ووئیل | اے عزیزه!

مایوسه کیږی ۔ بیا چه هغوئ یوسف علیه السلام ته ورغلل نو وے وئیل چه اے عزیزه! موږ ته او زموږ

مَسَّنَا وَاَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ فَاَوْفِ لَنَا

رسیلے دے موږ ته | او زموږ د کور خلقو ته | تکلیف | او موږ راوړے دے | سرمایه | معمولی | پس پوره راکړه | موږ ته

د کور خلقو ته ډیر تکلیف رسیدلے دے او موږ څهٔ لږ شان معمولی سرمایه راوړے ده نو موږ له (د غلے) پوره

الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ ﴿٨٨﴾ قَالَ

پیمانه (غله) | او خیرات وکړه | په موږ باندې | بیشکه الله | جزا ورکوی | خیرات ورکوونکو ته | دهٔ ووئیل

پیمانه راکړه او په موږ خیرات وکړه ، بیشکه الله تعالیٰ صدقه ورکوونکو ته جزا ورکوی ۔ یوسف علیه السلام

هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ بِيُوْسُفَ وَاَخِيْهِ اِذْ اَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ ﴿٨٩﴾

آیا تاسو ته معلوم دی؟ | څهٔ چه | وکړل تاسو | یوسف | او د دهٔ د ورور سره | هرکله چه تاسو | ناپوهه یئ ۔

تپوس وکړو آیا تاسو ته معلوم دی چه د ناپوهئ په زمانه کښے تاسو یوسفؑ او د دهٔ د ورور سره څهٔ سلوک کړے دو

قَالُوْۤا ءَاِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ قَالَ اَنَا يُوْسُفُ وَهٰذَاۤ اَخِيْ

دوی ووئیل | آیا بیشکه ته | هم ته یئ | یوسف | دهٔ ووئیل | (هو!) هم زهٔ یوسف یم | او دا زما ورور دے

هغوئ ووئیل آیا هم تهٔ یوسفؑ یئے؟ دهٔ ووئیل هو! هم زهٔ یوسفؑ یم ، او دا زما ورور دے

قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا ؕ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ

احسان کړے دے | الله | په موږ باندې | بیشکه | څوک چه پرهیزګاری کوی | او صبر کوی | نو بیشکه الله | نهٔ ضائع کوی

په موږ باندې الله تعالیٰ احسان کړے دے ، یقیناً څوک چه (الله) نه ویریږی او صبر کوی ، نو بیشکه الله تعالیٰ د (داسے)

اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٩٠﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا

اجر | د نیکانو | دوئ ووئیل | قسم په الله | بیشکه فضیلت درکړے دے تا ته | الله | په موږ باندې

نیکانو خلقو اجر نهٔ ضائع کوی ۔ هغوئ ووئیل د الله قسم! الله تعالیٰ تا له په موږ باندې فضیلت درکړے دے

وَاِنْ كُنَّا لَخٰطِـِٔيْنَ ﴿٩١﴾ قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ

او هم موږ خطا کار وو | دهٔ ووئیل | هیڅ الزام نشته | په تاسو | نن ورځ | معاف دِ کړی الله | تاسو

او بیشکه هم موږ خطا کار وو ۔ یوسف علیه السلام ورته ووئیل نن په تاسو هیڅ الزام نشته الله تعالیٰ دِ تاسو معاف کړی

وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٩٢﴾ اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ

او هغه | ډېر زيات رحم کوونکے دے | يوسي | زما | قميص | دا | پس ورواچوئ دا | په مخ

او هغه د ټولو نه زيات مهربانه دے. (واس) تاسو دا زما قميص يوسئ، نو زما د پلار په مخ ئے

اَبِيْ يَاْتِ بَصِيْرًا ۚ وَاْتُوْنِيْ بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا

د پلار زما | هغه به شي | بينا | او راولئ ماله | خپل کور والا | ټول | او هرکله چه

واچوئ د هغه سترګے به روښانه شي او ماله خپل ټول خاندان دلته راولئ، او هرکله چه

فَصَلَتِ الْعِيْرُ قَالَ اَبُوْهُمْ اِنِّيْ لَاَجِدُ رِيْحَ يُوْسُفَ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿٩٤﴾

روانه شوه | قافله | نو ووئيل | د دوی پلار | بيشکه زه بيا موم | بوئيں | د يوسف | که تاسو م بے وبه ونه بولئ

قافله روانه شوه نو هغوی پلار ووئيل چه د يوسف بوئيں را باني ولګيدو خو هسے نه چه تاسو راته ليونے روايئ

قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ لَفِيْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ

هغوی ووئيل | د الله قسم | بيشکه ته | په خپله پخوانئ خطا يئ کښے يئے | بيا هرکله | چه راغے | زيرے کوونکے

هغوی ووئيل د الله قسم بيشکه ته په خپل پخوانئ وهم کښے يئے. بيا چه زيرے ورکوونکے راغے،

اَلْقٰىهُ عَلٰى وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ بَصِيْرًا ۚ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ۚ

نو واچولو ده (قميص) | په مخ د ده | نو شولو دے | بينا | وے وئيل | آيا ما نه وو وئيلی | تاسو ته

او هغه قميص ئے د هغه په مخ واچولو نو بيا ئے سترګے روښانه شولے. يعقوب عليه السلام ووئيل آيا ما تاسو ته نه وو وئيل

اِنِّيْٓ اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٩٦﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا اسْتَغْفِرْ

بيشکه زه | پوهيږم | د الله د طرف نه | په هغه څه | چه تاسو پرے نه پوهيږئ | دوی ووئيل | اے زمونږ پلاره! | بخښنه وغواړه

بيشکه ما ته د الله د طرف نه هغه خبرے معلومے دی چه تاسو ته نه دی معلومے، هغوی ووئيل اے بابا! مونږ خطا کار

لَنَا ذُنُوْبَنَآ اِنَّا كُنَّا خٰطِــِٕيْنَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ

مونږ د پاره | زمونږ د ګناهونو | بيشکه مونږ وو | ګناهګاران | ده ووئيل | زر به | زه بخښنه وغواړم | تاسو د پاره

يو، مونږ د پاره زمونږ د ګناهونو بخښنه وغواړه، وے فرمائيل، ډير زر به د خپل رب نه تاسو د پاره بخښنه

رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿٩٨﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰٓى

د خپل رب نه | بيشکه هغه | بخښونکے | مهربان دے | بيا هرکله | چه دوی داخل شول | په يوسف | نو ځائے ورکړو ده

وغواړم، بيشکه هغه بخښونکے رحم کوونکے دے، بيا چه دوی ټول يوسف له ورسيدل نو هغه مور او پلار

اِلَيْهِ اَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ

خپل ځان سره | خپل مور پلار ته | او وے وئيل | داخل شئ | په مصر کښے | که چرے الله وغوښتل | په امن سره | او اوچت کښينول

ځان سره کښينول او وے وئيل ټول په مصر کښے داخل شئ که الله تعالیٰ ته منظور وی نو په امن به وسيږئ او خپل

اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ يٰٓاَبَتِ

خپل مور او پلار | په تخت باندے | او پريوتل دوی | د ده په وړاندے | په سجده | او ده ووئيل | اے زما پلاره!

مور پلار ئے په شاهی تخت باندے کښينول او ټول يوسف ته په سجده پريوتل. او يوسف ووئيل اے زما پلاره!

هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ ؗ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّيْ حَقًّا ؕ

ربښتیا | زما ربّ | بیشکه کړی دا | له دے نه وړاندې | زما د خوب | تعبیر | دا دے

او، کړو ربښتیا زمارب (خوب) هغه ، وو لیدلے وړاندې ما چه دے تعبیر خوب د زما دا

وَقَدْ اَحْسَنَ بِيْٓ اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ وَجَآءَ بِكُمْ مِّنَ الْبَدْوِ

له صحرا نه | او راغے وستلو تاسو | له قید خانے نه | هر کله چه زه ئے را وویستلم | په ما | او هغهٔ احسان وکړو

راوستی (دلته) نه کلی د ئے ټول تاسو او وویستلم را ئے نه جیل د چه وکړو احسان (دا خوصره) ئے سره ما

مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ بَيْنِيْ وَبَيْنَ اِخْوَتِيْ ؕ اِنَّ رَبِّيْ

زمارب | بیشکه | او په مینځ زما د ورونړو کښې | په مینځ زما | شیطان | فساد واچولو | پس له هغې نه چه

زمارب بیشکه ، وو اچولے فساد کښې مینځ په ورونړو د زما او زما شیطان چه نه دے له پس

لَطِيْفٌ لِّمَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝١٠٠ رَبِّ

اے زماربه! | خاوند د حکمت دے | پوهه | بیشکه هغه | هغه وغواړی | چا د پاره چه | ښهٔ تدبیر کوونکے دے

اے زماربه! ، دے خاوند حکمت د پوهه هرڅهٔ په هغه وکړی تدبیر مزیدار له هغه نو غواړی ښهٔ چه

قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ۚ

د خوبونو | تعبیر | او تا وښودلو ماته | بادشاهی | تا راکړله ماته

تا ماله حکومت هم راکړو ، او د خوبونو د تعبیر علم دِ راکړو.

فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۟ اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ

اے پیدا کوونکیه! | د آسمانونو | او د ځمکے | هم ته زما کارساز یې | په دنیا کښې | او آخرت (کښې)

اے د آسمانونو او د ځمکے خالقه ! ته په دنیا او په آخرت دواړو کښې زما کارساز یې

تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ۝١٠١ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ

ما اوچت کړه (له دنیا نه) | فرمانبردار | او ما شامل کړه | په نیکانو کښې | دا خبرونه دی

ما د دنیا نه د فرمانبردارۍ په حالت کښې اوچت کړے او د نیکانو په ټولی کښې م شامل کړے! دا د غیبو خبرونه

الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ

د غیبو | (چه) وحی کوو مونږ د دے | ستا طرف ته | او نهٔ وے ته | د دوی سره

دی چه تا ته ئے مونږ د وحی په ذریعه درلیږو او ته هغه وخت د هغوئ سره موجود نه وے

اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ۝١٠٢ وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ

هر کله چه دوی جمع کړو (پوخ کړو) | خپل کار | او دوی | بد تدبیر کوونو | او نهٔ دی اکثر خلق

کله چه هغوئ په خپله اراده باندې اتفاق کړے وو او سازشونه ئے تیارول. او (په دوئ کښې) اکثر خلق

وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝١٠٣ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ؕ

اګر که ته وغواړے | ایمان راوړونکی | او نه غواړے ته له دوی نه | په دے (تبلیغ) | څهٔ اجر

ایمان نهٔ راوړی اګر که ډیر ستا زړهٔ غواړی، او ته څهٔ د دوئ نه په دے تبلیغ باندې خواجر نهٔ غواړے

ع ۱۱

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ

نه دے دا | مگر نصیحت | دَ ټولو جهانونو دَپاره | او ډیرې | نخښې دي

دا (قرآن) خو دَ ټول مخلوق دَ پاره عام نصیحت دے . او په آسمانونو او په زمکه کښې ډیرې

فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا

په آسمانونو کښې | او زمکه (کښې) | چه تیریږي دوی | په هغې | او | دوی | له هغې نه

ډیرې نخښې پرتې دي چه دوی پرے (هر وخت) تیریږي ، او دوی دَ هغې نه مخ وَنه

مُعْرِضُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ

مخ اړونکي دي | او ایمان نه راوړي | اکثر له دوی نه | په الله باندې | مگر | دوی

اړولی دي . او په دوی کښې اکثر په الله تعالیٰ ایمان نه راوړي او بیا شرک هم

مُّشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ

هم مشرکان وي . | پس آیا دوی بے ویرې شول | (له دې نه) چه راشي په دوی | راخورېدونکے (آفت)

کوي . آیا دا خلق دَ دے خبرے نه بے غمه شوي دي چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه پرے دَ عذاب

مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۰۷﴾

دَ الله دَ عذاب نه | یا راشي په دوی | قیامت | ناگهانه | او دوی ته خبر هم نه وي .

څه داسے آفت راپریوزي چه په دوی خورشي یا ناگهانه پرے قیامت راشي او دوی ترے نه خبر قدر له هم نه وي

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۚ عَلٰى بَصِيْرَةٍ

وَقف النبی صلی اللہ علیہ وسلم

ووایه | دا | زما لاره ده | زه رابلم | دَ الله طرف ته | په ښکاره دلیل یم

(له پیغمبره !) ورته ووایه دا زما لاره ده چه زه خلق الله تعالیٰ ته رابلم ، زه هم خپله لار په سمه رڼا

اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

زه | او هغه (هم) چا چه زما پیروي وکړه | او الله پاک دے | او نه یم زه | له مشرکانو نه

باندې خرگنده وینم او زما ملگري (هم) او الله پاک دے او زما دَ مشرکانو سره هیڅ واسطه نشته

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ

او نه دي لیږلي مونږ | له تا نه وړاندې | مگر | سړي | چه مونږ وحي رالیږله | هغوي ته

او مونږ چه له تا نه وړاندې دَ (مختلفو کلو خلقو ته څوک لیږلي وو نو هم سړي مو لیږلي وو ، کومو طرف ته چه به

مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ۭ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا

دَ کلو له اوسېدونکو نه | پس آیا نه دي گرځیدلي دوی | په زمکه کښې | چه کتلے ئې

مونږ وحي لیږله ، نو آیا دا خلق په دنیا کښې گرځي راگرځي نه چه کتلے ئې وے

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ

چه څنگه شو | انجام | دَ هغه خلقو | چه وړاندې له دوی نه وو | او یقیناً کور دَ آخرت

چه کوم خلق له دوی نه وړاندې تیر شوي دي دَ هغوي څه انجام شوے وو ، او البته دَ آخرت کور

خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ حَتّٰۤى اِذَا اسْتَيْئَسَ

بهتر دے | دَ هغو دَ پاره | کوموچه پرهیز وکړو | پس آیا تاسو عقل نه لرئ | ترد ے چه | هر کله | نا امیده شول

هغو خلقو دَ پاره بهتر دے کوم چه پرهیزګار دی پس آیا تاسو نه پوهیږئ ، تر دے چه کله پیغمبران مایوسه شول

الرُّسُلُ وَظَنُّوْۤا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ۙ

پیغمبران | او دوی ګمان وکړو | چه دوی | دروغژن کړے شوی دی | نو راغے دوی ته | زموږ مدد

او دَ دوی ګمان شو چه (ادس) دوی دروغژن کړے شوی دی نو دوی ته زموږ مدد راورسید

فَنُجِّىَ مَنْ نَّشَآءُ ؕ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾

پس خلاص کړے شو | هغه چا ته چه | موږ غوښتل | او نه شی ګرځیدلے | زموږ عذاب | دَ مجرمانو خلقو نه

نو کوم چه موږ غوښتل هغه بچ کړے شول ، او زموږ عذاب دَ مجرمانو نه نه پسته کیږی.

لَقَدْ كَانَ فِىْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّاُولِى الْاَلْبَابِ ؕ مَا كَانَ

یقیناً دے | دَ هغوئ په قصو کښے | عبرت | دَ عقل مندانو دَ پاره | نه دے (قرآن)

بیشکه دَ هغوئ په قصو کښے پوهه خلقو له لوئے عبرت دے . دا (قرآن) دَ

حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ

خبره | دَ دروغو جوړه شوے | او | لیکن | تصدیق دے | دَ هغه څه چه | له دے نه وړاندې دی

دروغو جوړ (کلام) نه دے ، بلکه دَ هغه (کتاب) تصدیق کوی چه وړاندې تر دے نه راغلے دے.

وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَىْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ ع ۶ ۱۷

او تفصیل | دَ هر څیز | او هدایت | او رحمت دے | دَ هغو خلقو دَ پاره | چه ایمان راوړی

او دَ هر (مذهبی) څیز تفصیل بیانوی ، او مؤمنانو له هدایت او رحمت دے .

سُوْرَةُ الرَّعْدِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِىَ ثَلٰثٌ وَّ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة رعد په مدینه کښے نازل شوی ده په دے کښے ۴۳ آیتونه او ۶ رکوع ګانی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع کوم) دَ الله په نوم چه لوئے مهربانه ډیر زیات رحم کوونکے دے

دَ الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان (او) ډیر زیات دَ رحم خاوند دے

الٓمّٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ؕ وَالَّذِىْۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

الف لام میم را | دا | آیتونه دی | دَ کتاب | او هغه څه چه | نازل شوی دی | ستا طرف ته

الف لام میم را . دا (دَ قرآن) دَ کتاب آیتونه دی ، او ستا دَ رب له طرف نه څه چه په تا نازل کړے شوی

مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾

ستا دَ رب له طرف نه | حق دی | لیکن | اکثر خلق | ایمان نه راوړی

دی ، هغه (بالکل) رښتیا دی ، مګر اکثر خلق ایمان نه راوړی -

اَللّٰهُ الَّذِىْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰى

الله هغه دے | چه اوچت ئے کړل | آسمانونه | بے ستنو | چه تاسو ئے وینئ | بیا | ئے قرار ونیوو

الله تعالیٰ هغه (پاک) ذات دے چه آسمانونه ئے بغیر ستنو اوچت کړی (لکه چه) تاسو ئے وینئ ، بیا په عرش (دَ حکومت)

عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجْرِيْ

په عرش | او په کار ئې ولګول | نمر | او سپوږمۍ | هر يو روان دے

قائم دے ، او نمر او سپوږمۍ ئې په کار لګولی دی، او هر يو په مقرر

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ

مقرره موده د پاره | هغه انتظام کوی | د کار | هغه په تفصيل سره بيانوی | نخښے | چه تاسو

وخت پورې روان دے ،هم هغه د هرے خبرے انتظام کوی ، هغه خپلې نخښے په تفصيل سره بيانوی چه

بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ۝٢ وَهُوَ الَّذِيْ مَدَّ الْاَرْضَ

په ملاقات | د رب خپل | يقين وکړئ | او هم هغه دے چا چه | غوړولے | زمکه

تاسو د خپل رب په وړاندې د حاضريدو يقين وکړئ او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه زمکه ئې خوره کړے ده

وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْهٰرًا ؕ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

او جوړ ئې کړل | په دے کښے | غرونه | او نهرونه | او له هر قسمه | ميوو نه ئې

او په دے کښے ئې غرونه او دريابونه جوړ کړی دی . او په دے کښے ئې د هر قسم ميوو

جَعَلَ فِيْهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ ؕ

پيدا کړے | په زمکه کښے | جوړے | دوه دوه | پټوی | شپه | په ورځ سره

جوړے جوړے پيدا کړی دی ، او هغه شپه د ورځ په رڼا سره پټوی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝٣ وَفِي الْاَرْضِ

بيشکه | په دے کښے | نخښے دی | هغو خلقو د پاره | چه فکر کوی | او په زمکه کښے

په دے خبرو کښے د فکر کوونکو خلقو د پاره نخښے پرتے دی او په زمکه کښے مختلف

قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ

(د ډير قسمه) ټوټے دی | د يو بل سره لګيدلي | او باغونه دی | د انګورو | او پټي دی | او کجورے دی

ټکړے دی چه يو بل سره ملاؤ دی او د انګورو باغونه دی او پټی دی او کجورے دی

صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ ۚ وَنُفَضِّلُ

ښاخونو والا | او بغير ښاخونو والا | اوبه کولے شی | هم يو (قسم) اوبونه | او مونږ فضيلت ورکوو

د ځنو ډير ښاخونه وی او ځنے د يو تنے ، ټول په يو قسم اوبو باندې خړوبيږی ، خو بيا هم مونږه يو د

بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِي الْاُكُلِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

ځنو له | په ځنو باندې | په خوراک کښے | بيشکه | په دے کښے | نخښے دی

بل نه په خوراک کښے غوره پيدا کړی دی ، بيشکه په دے ټولو خبرو کښے نخښے پرتے دی هغو

لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝٤ وَاِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ

هغو خلقو د پاره | چه عقل لری | او که چرے | ته تعجب کوے | پس عجيبه ده | خبره د دوی

خلقو د پاره چه عقل نه کار اخلی . او که ته تعجب کوے نو د تعجب جوګه خو د دوی دا وينا ده

ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِیْ خَلْقٍ جَدِیْدٍ ؕ۬ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا

انکار وکړو | کوم چه | هم دا خلق دي | پيدا کيږو | بيا د سره | ايا موږ به | ايا کله چه شو موږ خاوره

چه هر کله مړه شو او خاورې شو نو لا بيا به د نوي سره پيدا کيږو ، دا هغه خلق دي چه د خپل رب نه منکر دي

بِرَبِّهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِیْٓ اَعْنَاقِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

د خپل رب | او هم دا خلق دي | چه طوقونه به وي | د دوي په غړونو کښې | او دوي دي | خاوندان | د اور

او د دوي په غړونو کښې به طوقونه زورند پراته وي ، او هم دغه خلق دوزخيان دي

هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ۟ وَیَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّیِّئَةِ قَبْلَ

دوي به | په هغې کښې | هميشه وي | او دوي په تا نه ئې غواړي له تا نه | بدي | وړاندې

چه هميشه به پکښې (لوغړي) پراته وي ، او دوي په تا تلوار کوي چه مصيبت د عافيت نه وړاندې

الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ

له ښيګړې نه | او بيشکه تير شوي دي | وړاندې له دوي نه | عذابونه | او بيشکه | ستا رب

راشي ، حال دا دے چه د دوي نه وړاندې ډير عذابونه تير شوي دي ، او بيشکه ستا رب ډير

لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰی ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ لَشَدِیْدُ

لوئے معاف کوونکے دے | د خلقو | باوجود د دوي د ظلم | او بيشکه | ستا رب | سخت

خلقو د زياتي کولو باوجود بخښونکے دے ، او بيشکه ستا رب سخت سزا ورکوونکے

الْعِقَابِ ۟ وَیَقُوْلُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ

عذاب ورکوونکے دے | او وائي | کافران خلق | چه ولې نازله نه شوه | په ده باندې

دے. او دا کافران وائي چه د ده د رب له طرف نه په ده باندې څه نخښه

اٰیَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّ لِكُلِّ قَوْمٍ

څه نخښه | د ده د رب له طرف نه | بيشکه چه ته | ويروونکے يې | او | هر يو قوم د پاره

ولې نازله نه شوه ، (اے پيغمبره!) ته خو صرف (د بدو نتيجونه) ويروونکے يې او د هر قوم د پاره يو

هَادٍ ۟ اَللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰی وَمَا

يو لار ښوونکے دے | الله | پوهيږي | په هغه څه | چه په خيټه کښې ئې لري | هره يوه ښځه | او څه چه

رهنما دے . الله تعالىٰ ښه پيژني څه چه د يوې ښځې په خيټه کښې پراته وي او څه چه (د ښځې)

تَغِیْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ وَكُلُّ شَیْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ۟

کموي | رحمونه | او څه چه زياتيږي | او هر يو څيز | د هغه سره | په اندازه دے

په رحم کښې (د بچي د پيدا ويښت په حقله) کمے زياتے کيږي او دا هر څيز د هغه په نزد په يوه مقرره اندازه کيږي

عٰلِمُ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِیْرُ الْمُتَعَالِ ۟ سَوَآءٌ مِّنْكُمْ

هغه پوهه دے | په پټو | او په ښکاره | د ټولو نه لوئے دے | خاوند د اوچت مرتبې دے | برابر دي | له تاسو نه

هغه په پټو او په ښکاره د ټولو څيزونو باندې ښه عالم دے ، ويرلوئے دے ، عاليشان دے (د هغه په علم کښې) برابر دي که

ع ١

مَّنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِالَّيْلِ

څوک چه | پټوي | خبره | او څوک چه | په اوچت آواز وائي دا | او څوک چه | پټ دے | په شپه کښے

څوک خبره پټه کړي ، او که څرګنده کړي ، او که څوک د شپے (په تیاره کښے) پټ شي او که د

وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ۝۱۰ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ

او (څوک چه) روان دے | د ورځے | د هغهٔ | پهره دار دي | د وړاندے (بنده) نه وړاندې | او د وروستو نه

ورځے (څرګند) ګرځي راګرځي ، هر يو له واره په وار راتلونکي (فرښتے) مقرر دي وړاندې هم او وروستو هم

يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ

هغوي د دهٔ حفاظت کوي | د الله په حکم سره | بیشکه الله | نهٔ بدلوي | حالت د يو قوم

چه د الله تعالیٰ په حکم د هغهٔ حفاظت کوي ، بیشکه الله تعالیٰ د يو قوم (جمع) حالت نهٔ بدلوي

حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ

ترڅو چه | بدل کړي دا دوي | هغه څه چه | د دوي په زړونو کښے دي (خپل حالت) | او هر کله چه | اراده وکړي | الله | يو قوم ته

ترڅو چه هغوي په خپل ځان کښے (په خپله) تبديلي پيدا نهٔ کړي او هر کله چه الله تعالیٰ په يو قوم باندې د مصيبت

سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ۝۱۱

د بدئ | نو هيڅوک واپس کولے نهٔ شي هغه | او نشته دے د دوي | د هغهٔ نه سيوا | مددګار

(راوستو) اراده وکړي نو هيڅوک ئے واپس کولے نهٔ شي او نهٔ بل څوک د خدائے په مقابله کښے د هغوئ مدد کولے شي.

هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنْشِئُ

هم هغه دے چه | ښائي تاسو ته | بريښنا | د ياره د ويرے | او اُميد ورکولو | او | اوچتوي

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ته د بجلئ برق ښائي چه د ويرے او اُميد دواړو ذريعه ده او د اوبو نه ډکے) درنے

السَّحَابَ الثِّقَالَ ۝۱۲ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

وريځے | درنے | او پاکي بيانوي | رعد | د هغهٔ تعريف سره | او فرښتے (هم)

درنے وريځے راخيژوي او رعد (ګړګوړ) په تعريف سره د هغهٔ پاکي بيانوي او فرښتے هم د هغهٔ د رعب

مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ يَّشَآءُ

د هغهٔ د ويرے نه | او هغه رالیږي | تندر | بيا راغورزوي هغه | په چا چه هغه وغواړي

نه (رپيږي او د هغهٔ پاکي بيانوي) او هغه تندر رالیږي نو چه په چا غواړي په هغه ئے راغورزوي

وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ۝۱۳ ؕ

او دوي | جګړے کوي | د الله په حقله | او هغه | سخت | نيولونکے دے

او (دا خلق چه) دوئ د الله په حقله جګړے کوي ، حال دا چه هغه د لوئے طاقت خاوند دے .

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ

هم د هغهٔ | بلنه | رښتينے ده | او کوم چه | دوي بلي | د هغهٔ نه سيوا | هغوي جواب نهٔ ورکوي | دوي ته

هم د هغهٔ بلنه برحق ده - او څوک چه د هغهٔ نه بغير نور خلق بلي نو هغوي ورته هيڅ جواب ورکولے

بِشَیۡءٍ اِلَّا کَبَاسِطِ کَفَّیۡهِ اِلَی الۡمَآءِ لِیَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ

دَ هیڅ شیز | مګر | لکه چه (څوک) خواره کړی خپل دواړه لاسونه | دَ اوبو طرف ته | چه ورسیږی | دَ ده خُلې ته | او نه دی هغه

نه شی ، مګر دَ هغه بنده په شان چه خپل دواړه لاسونه اوبو ته وغزوی چه دَ ده خُلې ته را ورسیږی حال دا چه هغه

بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا دُعَآءُ الۡکٰفِرِیۡنَ اِلَّا فِیۡ ضَلٰلٍ ﴿۱۴﴾ وَلِلّٰهِ یَسۡجُدُ

دَ ده ته رسیدونکی | او نه دَه | بلنه | دَ کافرانو | مګر په ګمراهئ کښے (بے اثره) | او الله ته | سجده کوی

هیڅکله هم دَ ده ته نه شی رارسیدے او دَ کافرانو بلنه خو بے اثره او ضائع ده ، او څوک چه په اسمانونو کښے او زمکه کښے

مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ طَوۡعًا وَّکَرۡهًا وَّظِلٰلُهُمۡ بِالۡغُدُوِّ

هر هغه څوک | چه په اسمانونو کښے | او زمکه کښے دی | په خوښه | او په ناخوښه | او سوری (دَ دوی) | دَ صبا

دی په خوښه یا په ناخوښه هم الله تعالیٰ ته سجده کوی او دَ هغوی ټول سوری هم سحر او ماښام

السجدة

وَالۡاٰصَالِ ﴿۱۵﴾ السجدة قُلۡ مَنۡ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ قُلِ

او دَ ماښام (په وخت) | ووایه | څوک دے | رب | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | ووایه

ورته سجده کوی . (اے نبی!) تپوس تربے نه وکړه چه دَ آسمانونو او دَ زمکے رب څوک دے ؟ ته ورته ووایه چه

اللّٰهُ ؕ قُلۡ اَفَاتَّخَذۡتُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِیَآءَ لَا یَمۡلِکُوۡنَ

الله دے | ووایه | آیا تاسو نیولی دی | بے له هغه نه | دوستان | هغوی اختیار نه لری

صرف الله دے . ورته ووایه چه آیا تاسو دَ هغه نه بغیر نور داسے مددګاران ځان له نیولی دی چه هغوی دَ خپل ځان

لِاَنۡفُسِهِمۡ نَفۡعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ قُلۡ هَلۡ یَسۡتَوِی الۡاَعۡمٰی

دَ خپل ځان دَ پاره | دَ فائدے | او نه دَ نقصان | ووایه | آیا | برابر دے | ړوند

دَ پاره دَ نفع او ضرر اختیار هم نه لری ، ورته ووایه چه آیا ړوند او دَ سترګو خاوند چرے برابریږی

وَالۡبَصِیۡرُ ۙ اَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِی الظُّلُمٰتُ وَالنُّوۡرُ ۚ اَمۡ جَعَلُوۡا

او بینا ؟ | یا | آیا | برابر دی | تیاره | او رنړا | یا دوی جوړ وی

شی ؟ یا تیاره او رنړا چرے یو برابر کیدے شی ؟ یا دوی الله تعالیٰ له

لِلّٰهِ شُرَکَآءَ خَلَقُوۡا کَخَلۡقِهٖ فَتَشَابَهَ الۡخَلۡقُ عَلَیۡهِمۡ ؕ

الله دَ پاره | (داسے) شریکان | چه هغوی پیدا کړی دی | په شان دَ پیدا کولو دَ هغه | پس ګډوډ شوے دے پیدا ښت | په دوی

داسے شریکان راپیدا کړی دی چه دَ الله دَ مخلوق غوندے مخلوق ئے پیدا کړے دے چه دوی ته دَ پیدائش په حقله شک پیدا

قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ کُلِّ شَیۡءٍ وَّهُوَ الۡوَاحِدُ الۡقَهَّارُ ﴿۱۶﴾ اَنۡزَلَ

ووایه | الله | پیدا کوونکے دے | دَ هر شیز | او هغه | یو دے | غالب دے | هغه را اُورولے

شوے دے ورته ووایه چه الله تعالیٰ دَ هر شیز خالق دے او هغه یو دے (او) په ټولو غالب دے ، هغه دَ بره نه

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتۡ اَوۡدِیَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحۡتَمَلَ

له اسمان نه | اوبه | بیا را وبهیدل | خوړونه | په خپله اندازه | بیا اوچت کړو

اوبه را اُورولے ، چه دَ هغے په اندازه خوړونه را وبهیدل ، نو دغے سیلاب

السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ

سیلاب | زګ | ډ پاسه راتلونکے | او له هغه څه نه | چه ګرموی ئے دوی | په هغې بانې | په اور کښې

په سر راند زګونه راوخستل ، او څه چه دوئ په اور کښې ګرموی

ابْتِغَاءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ

ډ پاره ډ غوښتلو | ډ ګاڼې | یا ډ سامان | زګ دے | په شان ډ دے | دغه شان | بیانوی

ډ ګاڼو یا ډ لوښو جوړولو ډ پاره په هغې بانې هم دغسې زګونه راخیژي. دغه شان الله تعالیٰ ډ حق او

اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ۚ فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً ۖ

الله | حق | او باطل | لیکن کوم | زګ چه دے | هغه لاړ شي | اوچ شي

ډ باطل مثالونه بیانوی . تو زګونه خو اوچ شي هسې بیکاره لاړ شي

وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ

او هغه څه چه | فائده ورکوی | خلقو ته | هغه پاتے شي | په زمکه کښې | دغه شان

او کوم څیز چه خلقو ته فائده ورکوی نو هغه په دنیا کښې باقی پاتے شي ، الله تعالیٰ هم دغه

يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾ لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنَىٰ ۚ

بیانوی | الله | مثالونه | هغه خلقو ډ پاره | چه حکم ئے ومنلو | ډ خپل رب | بهتری ده

شان مثالونه بیان فرمائی چا چه ډ خپل رب خبره ومنله هغوئ له ښه بدله (صفت) ده.

وَالَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ

او کوم خلقو چه | حکم ونه منلو | ډ هغه | که چرے وی | ډ هغوئ | هغه څه | چه په زمکه کښې دی

او چا چه ډ هغه خبره ونه منله که هغوئ سره ډ دنیا ټول څیزونه هم وی او دومره نور ورسره

جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ سُوءُ

ټول | او په شان ډ دے (نور هم وی) | ډ هغه سره | هغه په خپله بدله کښې ورکول غواړی | هغه | هم دا خلق دی | کوم ډ پاره چه به | بد

نو هم وشي نو هغوئ به ئے په فدیه کښې ورکولو ته تیار شي ډ هغوئ حساب به ډیر سخت

الْحِسَابِ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٨﴾ أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَا

حساب وی | او ځائے ډ دوی | دوزخ دے | او (هغه) بد | ځائے دے | پس آیا هغه کس | چه پوهیږی | چه څه

وی او ډ هغوئ ټیکاڼه به دوزخ وی او هغه ډیر خراب ځائے دے ، آیا څوک چه دا یقین لري

أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰ ۚ إِنَّمَا

نازل شوی دی | تا ته | ستا ډ رب له طرف نه | هغه حق دی | په شان ډ هغه چا دے | چه ړوند وی | بیشکه چه

چه په تا باندے ډ خپل رب ډ طرف نه کوم (کتاب) راغلے هغه حق دے ډ هغه چا په شان کیدے شي څوک چه ړوند وی؟

يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿١٩﴾ الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ

نصیحت قبلوی | عقل منی خلق | کوم خلق چه | پوره کوی | وعده ډ الله | او هغوئ نه ماتوی

نصیحت خو بس ډ پوهے خاوندان قبلوی ، څوک چه ډ الله تعالیٰ سره کړے وعده په ځائے کوی او هغه وعده

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

الْمِيْثَاقَ ﴿۲۰﴾ وَ الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ

وعده | او | هغه خلق چه | پیوند کوی | هغه څهٔ | چه حکم کړے دے الله | دَ هغې | چه پیوند کړے

نهٔ ماتوی. او څوک چه هغه (رشتې) پالی دَ کومو دَ پالنې چه الله تعالیٰ حکم کړے دے او

وَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَ يَخَافُوْنَ سُوْٓءَ الْحِسَابِ ﴿۲۱﴾ وَ الَّذِيْنَ

او هغوی ویریږی | له رب خپل نه | او ویریږی | دَ بد | حساب نه | او کوم خلقو چه

دَ خپل رب نه ویریږی او دَ سخت حساب کتاب نه ویریږی ، او څوک چه دَ خپل

صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اَنْفَقُوْا

صبر وکړو | په غوښتلو | دَ رضا | دَ رب خپل | او هغوی قائموی | مونځ | او خرڅ کوی

رب دَ رضا مندئ په تلاش کښې مضبوط لګیا دی او مونځونه کوی ، او زمونږ دَ

مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً وَّ يَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ

له هغه څه نه | چه ورکړی دی مونږ دوی ته | په پټه | او په ښکاره | او دفع کوی | په نیکئ سره | بدی

ورکړی شوی رزق نه (دَ نیکئ په لاره کښې) په پټه او په ښکاره خرڅ کوی او دَ نیکیو په ذریعه بدئ ختموی

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۲﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا

هم دا خلق دی | چه دوی دَ پاره | دَ آخرت | کور (دے) | باغونه دی | دَ همیشه اوسیدلو | دوی به په کښې داخلیږی

هم دا هغه خلق دی کومو دَ پاره چه دَ آخرت کور دے، یعنی دَ همیشه اوسیدو باغونه دی په کومو کښې چه به

وَ مَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَ اَزْوَاجِهِمْ وَ ذُرِّيّٰتِهِمْ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ

او څوک چه | نیکان وی | له پلارانو دَ دوی نه | او له ښځو دَ دوی | او له اولاد دَ دوی نه | او فرښتے به

دوی پخپله او دَ دوی پلار نیکهٔ او دَ دوی په ښځو او اولاد کښې چه څوک نیک وی داخلیږی ۔ او فرښتے به

يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴿۲۳﴾ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ

داخلیږی | په دوی باندې | له هرے دروازے نه | (وائی به) سلام دے وی | په تاسو | ځکه چه | تاسو صبر وکړو

ورته دَ هرے یوے دروازے نه ځنے له راځی (ورته به وائی) چه سلامت وَسئ ځکه چه تاسو به صبر کولو نو

فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۴﴾ وَ الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ

نو ډیر ښه دے | دَ آخرت | کور | او کوم خلق چه | ماتوی | وعده | دَ الله

په دے جهان کښې مو انجام ښهٔ شو ، او څوک چه دَ الله تعالیٰ سره کړے وعده دَ ټینګولو نه پس

مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وَ يَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ

دَ دے | دَ ټینګولو نه پس | او دوی پریکوی | چه حکم کړے دے | الله | دَ هغې | چه | پیوند دِ کړے شی

بیا ماتوی ، او دَ کومے (رشتې) چه الله تعالیٰ دَ پالنې حکم ورکړے دے هغه نهٔ پالی

وَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَ لَهُمْ

او دوی فساد کوی | په زمکه کښې | هم دا خلق دی | چه دوی دَ پاره | لعنت دے | او دوی دَ پاره

او په ملک کښې فساد جوړوی ، او په دا سے خلقو به لعنت وریږی او دَ دے خلقو

سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ

خراب | کور دے | الله | فراخه کوی | رزق | چاد پاره چه | هغه وغواړی | او تنګوی (کموی)

انجام په خراب وی. الله تعالیٰ چه چاله وغواړی نو روزی ورله فراخه کړی او چاله چه وغواړی (نو روزی ورله) تنګه کړی

وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ

او دوی خوشحاله ‌ؤ | په ژوند | د دنیا | او نه دے | ژوند | د دنیا | د آخرت په مقابله کښے

او دوی د دنیا په ژوند خوشحالیږی ، او د دنیا ژوند د آخرت په مقابله کښے (احستل) ډیره حقیره (ناولی)

اِلَّا مَتَاعٌ ﴿٢٦﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ ع

مګر | سامان لږ | او وائی | کوم خلق چه | کافران دی | چه ولے نازله نه شوه | په ده باندی

سودا ده . او کافران وائی چه ولے په ده باندی د خپل رب له طرفه نه راځونه

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ

نخښه | د ده د رب د طرف نه | ووایه | بیشکه | الله | ګمراه کوی | چا لره | چه وغواړی

(یا کلی) معجزه رانغله ؟ ورته ووایه چه الله تعالیٰ د چا په حقله وغواړی نو ګمراه ئے کړی

وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴿٢٧﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ

او | لاره ښائی | خپل طرف ته | هغه چا ته | چه رجوع وکړی | هغه خلق چه | ایمان راوړی | او اطمینان مومی

او هغه چا ته سمه لاره ښائی چه رجوع ورته وکړی ، یعنی څوک چه ایمان راوړی او د الله تعالیٰ

قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ؕ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴿٢٨﴾ اَلَّذِيْنَ

زړونه د هغوئ | په ذکر د الله سره | یاد ساته ! | هم په ذکر د الله سره | آرام نیسی | زړونه | هغه خلق چه

په ذکر مطمئن شی ، واوره ! چه د الله تعالیٰ په ذکر سره زړونه تسلی کیږی ، چا چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَاٰبٍ ﴿٢٩﴾

ایمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل | نیک | خوشحالی ده | هغوی د پاره | او ښه | ټیکاؤنه ده .

ایمان راوړو او نیک کارونه ئے وکړل ، هغوئ له خوشحالی ده او ښائسته انجام دے .

كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ

دغه شان | مونږ را ولیږلے ته | (دا سے) اُمت کښے | چه تیرشوی دی | له دے نه وړاندی | (ډیر) اُمتونه

دغه شان مونږ ته په یو داسے اُمت کښے رالیږلے یئے چه له دے نه وړاندی هم ډیر امتونه تیرشوی دی

لِّتَتْلُوَاۡ عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ

چه ته ئے لولے | دوی ته | هغه څه چه | مونږ ئے وحی کړے ده | ستا طرف ته | او دوی | انکار کوی

چه ته ورته هغه (کتاب) واوروے چه مونږ درته رالیږلے دے خو حال دا دے چه هغوئ هغه

بِالرَّحْمٰنِ ؕ قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ

د رحمٰن | ووایه | هم هغه دے | زما رب | نشته بل څوک معبود | سیوا د هغه نه | هم په هغه | ما توکل وکړو

د رحمٰن نه انکار کوی ، ورته ووایه چه هم هغه زما رب دے ، بے د هغه نه بل معبود نشته په هغه مے توکل دے .

وَإِلَيْهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾ وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ

غرونه | په (ذریعه د) دې | چه روان ولې شوې | يو قرآن | او که چېرې وې | زما رجوع ده | او هم ده ته طرف ته

او هغه ته به واپس ځم ۔ او که يو قرآن داسې راغلی وې چه په هغې غرونه اړولې شي

أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْأَرْضُ أَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتَىٰ ۗ بَل لِّلَّهِ

الله د پاره دې | بلکه | مړو | په د مړوه | يا خبرې کولې | زمکه | په دې سره | يا شليدلې

يا پرې زمکه ټکړې ټکړې کيګ شي ، يا د دې په ذريعه مړو خبرې کولې (بيا به هم دوی ايمان نه راوړو)

الْأَمْرُ جَمِيعًا ۗ أَفَلَمْ يَيْأَسِ الَّذِينَ آمَنُوا أَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ

الله | که چېرې غوښتې | مؤمنانو ته | آيا نه ده شوې تسلي | ټول | کار

بلکه ټول کار د الله په اختيار کښې دی ، او س هم د مسلمانانو په دې خبره تسلي نه ده شوې چه که الله تعالی غوښتې

لَهَدَى النَّاسَ جَمِيعًا ۗ وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا تُصِيبُهُم

دوی ته به رسيږي | کافران دي | کوم خلق چه | او هميشه | ټولو ته | خلقو | نو هدايت به کولې

نو ټولو خلقو ته به ئې هدايت کړې وو ۔ او دا کافران به هميشه په داسې حالت کښې پراته وي چه د خپلو

بِمَا صَنَعُوا قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ

راشي | ترڅو چه | د دوی د کور | نژدې | يا به راښکته کيږي | سخت مصيبت | د دوی د عملونو په بدله کښې

ګناهونو په وجه به پرې څه ناڅه آفت راځي يا به د دوی په خواوشا باندې راځي ، ترڅو چه د الله تعالی

وَعْدُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ

او بيشکه | له وعدې نه | خلاف نه کوي | الله | بيشکه | د الله | وعده

د وعدې پوره کيدو وخت راشي ۔ بيشکه الله تعالی د خپلې وعدې نه خلاف نه کوي ، او له تانه وړاندې

اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا

چه کافران دي | هغو خلقوته | پس ما مهلت ورکړو | له تا نه مخکښې | پيغمبرانو پورې | ټوقې شوې وې

هم په پيغمبرانو پورې ملنډې شوې دي ، خو ما (اول) کافرانو ته مهلت ورکړو

ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾ أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ

چه هغه نګران دې | پس آيا کوم (الله) | زما عذاب | وو | نو څنګه | ما ونيول دوی | بيا

نو بيا مې راګير ول ، نو (ته ګوره چه) زما سزا څومره سخته وه ، پس آيا کوم الله چه د هر سړي د ټولو

عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ۗ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ قُلْ

ووايه | شريکان | الله د پاره | او جوړ کړي دي دوی | څه چه هغه ګټلي دي | په هر نفس باندې

عملونو نګران دی (هغه د بتانو په شان کيدې شي) او دوی د (داسې) الله شريکان جوړ کړي دي ۔ د ته ووايه

سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ تُنَبِّئُونَهُ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي الْأَرْضِ أَمْ بِظَاهِرٍ

يا کوئي سرسري | په زمکه کښې | چه د هغه په علم کښې نشته | هغه څه | يا تاسو ښايئ هغه ته | واخلئ نامې د دوی

چه د هغوئ صفتونه خو (لږ) راوړئ آيا تاسو الله تعالی داسې (نا آشنا) څيزونه خبروئ چه په ټوله دنيا کښې د هغه په علم کښې

مِّنَ الْقَوْلِؕ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوْا

خیره | بلکه | ښائسته کړے شو | کافرانو دَ پاره | دَ دوی فریب | او منع کړے شول

نشته کړ تا هغوئ تش په خُله (ستا معبودان) دي بلکه کوم خلقو چه کفر وکړو هغوئ دَ پاره دَ هغوئ مکر ښائسته کړے شوې دے او هغوئ

عَنِ السَّبِيْلِؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ٣٣

(دَ حقې) لارے نه | او چا لره چه | گمراه کړی | الله | نو نشته | دهٔ دَ پاره | څوک لاره ښوونکے.

لارے (دَ هدايت) نه منع کړے شوی دی او څوک چه الله تعالیٰ گمراه کړی هغه ته هیڅوک په لاره کوونکے نهٔ شي۔

لَهُمْ عَذَابٌ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَقُّۚ

دوئ دَ پاره | عذاب دے | په ژوند کښے | دَ دُنیا | او خامخا عذاب | دَ آخرت | ډیر سخت دے

هغوئ دَ پاره دَ دنیا په ژوند کښے عذاب دے او دَ آخرت عذاب خو ډیر سخت دے۔

وَمَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ٣٤ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِىْ وُعِدَ

او نشته دے | دوی دَ پاره | دَ الله نه | څوک بچ کوونکے | مثال | دَ هغه جنت | دَ کوم چه | وعده شوے ده

او هیڅوک دوئ دَ الله تعالیٰ (دَ عذاب) نه بچ کوونکے نهٔ شي، دَ کوم جنت چه پرهیزګارو خلقو سره وعده شوے

الْمُتَّقُوْنَؕ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُؕ اُكُلُهَا دَآئِمٌ

پرهیزګارانو سره | بهیږی به | لاندې دَ هغے نه | نهرونه | میوے دَ هغے | همیشه دی

ده ، دَ هغے کیفیت دا دے چه لاندې به ترے نهرونه بهیږی ، دَ هغے میوے او دَ هغے سورے به

وَّظِلُّهَاؕ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْاۖ وَّعُقْبَى الْكٰفِرِيْنَ

او دَ هغے سورے هم | دا دے | انجام | دَ هغه خلقو | چه پرهیزګاری | او انجام | دَ کافرانو

تل عمری قائم وی ، دغه دَ پرهیزګارو انجام دے ، او دَ کافرانو انجام (دَ دوزخ) اور

النَّارُ ٣٥ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ

دوزخ دے | او هغه خلق | چه ورکړے دے مونږ هغوئ ته | کتاب | دوی خوشحالیږی | په هغه څهٔ

دے ۔ او هغه خلق کوم له چه مونږ کتاب ورکړے دے هغوئ په تا باندې په نازلیدونکی (کلام)

اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمِنَ الْاَحْزَابِ مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗؕ

چه نازل کړے شي | ستا طرف ته (قرآن) | او بعضے قومونه | هغه دی چه انکار کوی | دَ دے (قرآن) دَ ځنو برخو

خوشحالیږی او دَ هغوئ په مختلفو ټولو کښے داسے کسان هم شته چه دَ دے دَ ځنو حصو نه انکار کوی

قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖؕ اِلَيْهِ

ووایه | بیشکه چه | ماته حکم شوے دے | چه زهٔ عبادت وکړم | دَ الله | او شریک جوړ نهٔ کړم | دَ هغهٔ سره | زهٔ دَ هغهٔ طرف ته

ورته ووایه چه ماته خو بس دا حکم شوے دے چه دَ الله تعالیٰ عبادت وکړم او هیڅوک ورسره شریک نهٔ کړم ، زهٔ دَ

اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ٣٦ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّاؕ

زهٔ بلنه کوم | او هم دَ هغهٔ طرف ته | (ماله) واپس کیدل دی | او هم دغه شان | نازل کړے دے مونږ دا | حکم | په عربی ژبه کښے

هغهٔ طرف ته بلنه کوم او هم هغهٔ ته به واپس کیږم ۔ او هم دغه شان مونږ دا (کتاب) دَ یو صفا حکم په طور نازل کړو

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَمَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ

او كهٔ چرې | تا پیروي وکړه | دَ دوی دَ خواهشاتو | پس له هغې نه | چه راغلے دے تاته | له علم نه

او كهٔ تهٔ دَ دے (رسم) علم دَ راتلو نه پس هم دَ هغوئ په خواهشاتو پسے لاړے نو

مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا

نهٔ به وي تا دَپاره | دَ الله په مقابله کښے | څوک مدد ګار | او نهٔ څوک بچ کوونکے | او بیشکه | رالیږلی دی مونږ | پیغمبران

دَ الله تعالیٰ په مقابله کښے به دِ نهٔ څوک مددګار وي او نهٔ بچ کوونکے ـ او له تا نه وړاندې هم مونږ ډیر پیغمبران

مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ

له تا نه وړاندې (هم) | او ورکړے وُ مونږ | هغوئ ته | ښځے | او اولاد (هم) | او نهٔ وو (اختیار) | یو پیغمبر ته

لیږلی دی او هغوئ له مو ښځے او اولاد ورکړی دی ، او هیڅ یو پیغمبر دَ الله تعالیٰ

أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾

چه راوړي دے | څهٔ نخښه | بغیر | دَ حکم | دَ الله نه | هر یو | وخت | (حکم دے) لیکلے شوے

دَ حکم نه بغیر یو آیت (قدرله) هم نهٔ شی راوړے ، دَ هرے زمانے یو (جدا) کتاب دی

يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ﴿٣٩﴾

لرے کوي | الله | څهٔ چه غواړي | او باقي ساتي (څهٔ چه غواړي) | او هغهٔ سره | اصل | کتاب دے ـ

الله تعالیٰ چه کوم حکم غواړي هغه لرے کوي او چه کوم غواړي هغه باقي ساتي او اصل کتاب خو صرف هغهٔ سره دے

وَإِنْ مَا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ

او كهٔ چرې | وښایو مونږ تاته | ځنے | هغه څهٔ چه | وعده مونږ کوو دوی سره | یا وفات درکړو مونږ تاته

او مونږ چه دوئ سره (دَ عذاب) کومه وعده کوو کهٔ دَ هغې یوه برخه تاته وښایو ، یا تاله وفات درکړو

فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿٤٠﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا

پس بیشکه | چه په تا باندې | پیغام رسول دي | او په مونږ باندې | حساب اخستل | آیا نهٔ دي لیدلی دوی | چه مونږ

نو ستا کار خو یې حکمونه رسول دي ، او زمونږ په ذمه حساب اخستل دي ، آیا دوئ نهٔ ګوري چه مونږ

نَأْتِي الْأَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ

راوړاندې کیږو | زمکے ته | کمولو دا | دَ دے له طرفونو نه | او الله | حکم کوي

په دے زمکه راوړاندې کیږو او دَ هرے غاړے نه ئے (په دوئ) رالنډوو او حکومت الله تعالیٰ کوي

لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤١﴾ وَقَدْ مَكَرَ

څوک بندوونکے نهٔ شی | دَ هغهٔ حکم | او | هغه | ډیر زر | حساب اخستونکے دے | او بیشکه فریب کړے وو

هیڅوک دَ هغهٔ حکم بندولے نهٔ شی او هغه ډیر زر حساب خلاصوي او له دوئ نه وړاندې هم

الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ

هغه خلقو چه | له دوی نه وړاندې وو | نو ټول دَ الله دی | تدبیرونه | هغه پوهیږي | په هغهٔ څهٔ چه کوي

خلقو ډیر ډیر فریبونه کړي دو حال دا چه تدبیرونه خو ټول الله تعالیٰ سره دي هغهٔ ته معلومه ده چه هر نفس

كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَ

هر یو نفس | او ډیر زر به معلوم شي | کافرانو ته | چه چا د پاره دے | د آخرت | کور | او

څه څه کاروونه کوي ، او کافرانو ته به زر معلومه شي چه د آخرت انجام د چا (ښه) دے . او

يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَسْتَ مُرْسَلًا ۗ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ

وائي | هغه خلق | چه کافران دي | چه نه یې ته | پیغمبر | ووایه | کافي دے | الله

کافران وائي چه ته رسول نه یې ! ورته ووایه چه الله تعالیٰ

شَهِيْدًاۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۙ وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ ﴿٤٣﴾

ګواه | په مینځ زما | او په مینځ ستاسو کښې | او هغه څوک | چه د هغه سره | د کتاب علم دے

زما او ستاسو تر مینځه کافي ګواه دے او هغه څوک (ګواه دے) چا سره چه (تیر اسماني) کتاب علم دے

سُوْرَةُ اِبْرٰهِيْمَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة ابراهیم په مکه کښې نازل شوے او | (شروع) د الله په نوم سره چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښې ۵۲ آیتونه او ۷ رکوع دي

شروع کوم د الله په نوم سره چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے .

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ

الف لام را | (دا) کتاب دے | چه رالیږلے دے موږ | ستا طرف ته | چه ته ویاسے | خلق | له تیارونه

الف لام را . دا یو کتاب دے کوم چه موږ ستا طرف ته (حکم) نازل کړے دے چه ته خلق (د کفر) د تیارونه وباسے

اِلَى النُّوْرِ ۙ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿١﴾ ۙ

د رڼا طرف ته | په حکم | د رب د دوی | طرف د لارے | د غالب | ستائیلي شوي ته

او (د ایمان) رڼا ته ئې راولے د هغوی د رب په حکم سره د هغه خدائے لارے ته چه غالب او د تعریفونو لائق دے .

اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ وَوَيْلٌ

الله | د کوم د پاره چه دي | څه چه په آسمانونو کښې دي | او څه چه په زمکه کښې دي | او | تباهي ده

هغه الله چه د آسمانونو او د زمکے هر څیز د هغه مال دے او کافرانو د

لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيْدِ ﴿٢﴾ ۙ الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ

کافرانو د پاره | له عذاب | سخت نه | کوم خلق چه | خوښوي

پاره د ډیر سخت عذاب بربادي ده ، یعنی هغه خلق چه د آخرت په مقابله

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

ژوندن | د دنیا | په آخرت باندې | او منع کوي (خلق) | د الله د لارے نه

کښې د دنیا ژوندن خوښوي او خلق د الله تعالیٰ د لارے نه منع کوي

وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۗ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ﴿٣﴾

او لټوي په هغې کښې | عیبونه | هم داخلق دي | په ګمراهئ کښې | د لرے

او په هغې کښې عیبونه لټوي ، دوی په ګمراهئ کښې تر لرے رسیدلي دي ،

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ

اونه دے | لیږلے مونږ | هیڅ پیغمبر | مګر | په ژبه | د ده د قوم

او مونږ چه هر کله یو رسول لیږلے دے نو هغه خپل قوم ته هم د هغوئ په ژبه کښے پیغام رسولے دے۔

لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ؕ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ

د پاره د دے چه بیان کړی | دوئ ته پاره (هغوئ) | بیا ګمراه کوی | الله | هغه څوک چه وغواړی | او لاره ښائی

چه ورته ښه ښکاره حکمونه بیان کړی بیا د چا په حقله چه الله غواړی نو ګمراه ئے کړی او د چا په حقله چه غواړی

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ④ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

هغه چا ته | چه وغواړی | او هغه | زبردست | د حکمت خاوند دے | او بیشکه | مونږ ولیږلو

نو هغه ته سمه لاره وکړی، او هغه غالب د حکمتونو خاوند دے او مونږ موسیٰ (علیه السلام) د خپلو

مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَاۤ اَنْ اَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمٰتِ

موسیٰ | په نخښو زمونږ سره | چه راوباسه | خپل قوم | له تیارو نه

نخښو سره لیږلے وو چه خپل قوم د (جهالت د) تیارو نه راوباسه او (د علم) رڼا ته ئے

اِلَى النُّوْرِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

د رڼا طرف ته | او نصیحت وکړه دوئ ته | په ورځو د الله | بیشکه | په دے کښے | نخښے دی

راوله، او هغوئ ته د الله تعالیٰ (عبرتناکے تاریخی) معاملے ور یادے کړه، په دے کښے د هر صبر کوونکی

لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ⑤ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ

د پاره د هر | صبر کوونکی | شکرګزار ته | او هر کله چه | وو ئیل | موسیٰ | خپل قوم ته

شکر ایستونکی د پاره لوئے لوئے نخښے پرتے دی او هر کله چه موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته وو ئیل

اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ اَنْجٰىكُمْ

یاد کړئ | نعمت | د الله | (چه) په تاسو (دے) | هر کله چه | هغه نجات درکړو تاسو ته

چه د الله تعالیٰ هغه مهربانیانے را یادے کړی کومے چه هغه په تاسو باندے کړی دی، کله چه هغه تاسو له د فرعون

مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ

له قوم د فرعون نه | چه رسولو به دوئ تاسو ته | خراب | عذاب | او وژل به ئے | ځامن ستاسو

قوم نه نجات درکړو چه تاسو له به ئے سخت تکلیفونه درکول او ستاسو ځامن به ئے ذبح کول، او

وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ⑥

او ژوندئ به ئے پریښودلے | لونړه ستاسو | او په دے کښے ستاسو | ازمینت وو | ستاسو د رب له طرف نه | ډیر لوئے

ستاسو لونړه به ئے ژوندئ پریښودلے او په دے کښے ستاسو د رب له طرف نه ډیر لوئے ازمینت وو۔

وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ

او هر کله چه | اعلان وکړو | ستاسو رب | که چرے شکر وکړو تاسو | نو زه به زیات درکړم تاسو ته

او (یاد کړئ) کله چه ستاسو رب تاسو له خبر درکړو چه که تاسو (زما) شکر وباسئ نو زه به تاسو له ضرور نور (نعمتونه) درکړم

ع ۱۴

وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ ﴿٧﴾ وَقَالَ مُوْسٰىٓ اِنْ تَكْفُرُوْٓا

او كه چرې | تاسو ناشكري وكړه | نو بېشكه | زما عذاب | ډېر سخت دے | او وُوئيل | مُوسىٰ | كه چرې كافر شوئ

او كه ناشكري كوئ نو زما عذاب ډېر سخت دے ۔ او مُوسىٰ عليه السلام ووئيل كه تاسو انكار وكړئ

اَنْتُمْ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿٨﴾

تاسو | او هغه څوك چه | په زمكه كښې دي | ټول | نو بېشكه | الله | بے نيازه | ستائيلے شوے دے

او د زمكے په مخ اوسيدونكي ټول خلق د الله تعالىٰ نه منكرشي نو الله تعالىٰ (ترے نه) بے پروا او د تعريفونو لائق دے

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ

آيا نه دے راغلے تاسو ته | خبر | د هغه خلقو | چه له تاسو نه وړاندې وو | د قوم د نوح | او د عاد

آيا تاسو ته د مخكنو خلقو حالات نه دي دارسيدلي ۔ د نوح عليه السلام د قوم او د عاد او د ثمود او

وَّثَمُوْدَ ۬ۛ وَالَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ ؕ مع

او د ثمود | او كوم خلق چه | پس له دوي نه وو | نه | پېژني دوي (هيڅوك) | سيوا | د الله نه

د هغه نورو قومونو چه د دوي نه وروستو راغلي وو؟ د هغوي شميره بے د الله نه بل چاته معلومه نه ده ۔

جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرَدُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فِيْٓ اَفْوَاهِهِمْ

راغلل دوي ته | د دوي پيغمبران | په واضحو دليلونو سره | پس وركړل دوي | خپل لاسونه | د پيغمبرانو په خلو كښې

هغوي ته خپلو پيغمبرانو څرګند دلائل راوړے خوهغوي خپل څپلونه د هغو پيغمبرانو په خلو كښې وركړل ۔

وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا

او دوي ووئيل | موږ انكار كوو | په هغه څه | چه تاسو راليږلے شوي يئ په هغې | او بېشكه موږ | په شك كښې يو | له هغه څه نه

او ورته ئے ووئيل چه موږ ستاسو په ذريعه د راليږلي شوو حكمونو نه انكار كوو او تاسو چه موږ ته كومے بلنه راكوئ

تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ﴿٩﴾ قَالَتْ رُسُلُهُمْ اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ الثلثة

چه بلئ تاسو موږه | هغې ته | چه په ډېر شك كښې دے | ووئيل | د دوي پيغمبرانو | آيا په الله كښې مو | شك دے

د هغې په حقله زموږ (په زړونو كښې) شك او تردد دے ۔ د هغوي پيغمبرانو ورته ووئيل آيا تاسو د الله په حقله شك كوئ؟

فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَدْعُوْكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ

چه پيدا كوونكے دے | د آسمانونو | او | د زمكے | هغه رابلي تاسو | د پاره د دے چه وبخښي | تاسو ته

چه آسمانونه او زمكه ئے پيدا كړي دي ، هغه خو تاسو (توحيد ته) رابلي چه ستاسو ګناهونه معاف

مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ

ګناهونه ستاسو | او هغه مهلت دركړي تاسو ته | تر موده | مقرره پورے | دوي ووئيل | نه يئ تاسو

كړي ، او تر يوے مقررے نيټے پورے مهلت دركړي ، هغوي ورته ووئيل چه تاسو خو زموږ

اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ؕ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا عَمَّا

مګر بنيادم | په شان زموږ | تاسو غواړئ | چه موږ منع كړئ | له هغه څه نه

غوندې بنيادم يئ ۔ تاسو خو بس دا غواړئ چه موږ د هغو (معبودانو) نه منع كړئ چه زموږ پلار نيكه

كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۰﴾ قَالَتْ

چه عبادت ئې کولو | زمونږ پلارانو نيکونو | پس راوړئ مونږ له | (څۀ) دليل | ښکاره | ووئيل

به ئې عبادت کولو ، ښۀ دا چې مونږ ته يوه ښکاره معجزه راوړئ ۔ پيغمبرانو دوی ته ووئيل

لَهُمْ رُسُلُهُمْ اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

دوی ته | پيغمبرانو د دوی | (چه) نۀ يُو مونږ | مګر | بنيادم | په شان ستاسو | او ليکن | الله

چه مونږ خو بيشکه چه هم ستاسو غوندې بنيادم يُو ، خو الله تعالیٰ چه په

يَمُنُّ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَمَا كَانَ لَنَآ

احسان کوی | په چا چه غواړی | له خپلو بندګانو نه | او نۀ دی ممکن | مونږ د پاره

خپلو بندګانو کښې چه په چا ئې غواړی نو په هغۀ احسان وکړی ، او دا زمونږ په وس کښې نۀ ده

اَنْ نَّاْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

چه مونږ راوړو تاسو ته | څۀ دليل (معجزه) | مګر | په حکم | د الله | او (هم) په الله باندې | توکل پکار دے

چه مونږ تاسو ته د الله تعالیٰ د حکم نه بغير څۀ معجزه وښايُو ، او مؤمنانو له پکار دی چه صرف په

الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا

مؤمنانو له | او څۀ (عذر) دے مونږ د پاره | چه مونږ توکل ونۀ کړو | په الله باندې | او هغۀ ښودلی دی مونږ ته

الله باندې توکل وساتی۔ او مونږ د ولې په الله تعالیٰ باندې توکل ونۀ کړو ، حال دا چه هغۀ مونږ ته

سُبُلَنَا ؕ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

لارے زمونږ | او مونږ به ضرور صبر کوو | په هغۀ څۀ | چه تکليف راکوئ تاسو مونږ ته | او په الله باندې

زمونږ (د دين) طريقې وښودلے او تاسو چه مونږ له کوم تکليف راکوئ ـــ مونږ به په هغې ضرور صبر کوو او هم په الله

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ ع ۲ ۱۴

توکل کول پکار دی | توکل کوونکو له | او ووئيل | هغو خلقو چه | کافران وو | خپلو پيغمبرانو ته

باندې توکل کوونکوله توکل کول پکار دی ۔ او کومو خلقو چه د کفر لاره اختيار کړې وه هغوی خپلو پيغمبرانو ته

لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِیْ مِلَّتِنَا ؕ

(چه) مونږ به ضرور وباسو تاسو | له خپلے زمکے نه | يا به خامخا راوګرځئ تاسو | زمونږ په دين کښې

ووئيل چه مونږ به تاسو ضرور د خپل ملک نه وباسو يا به زمونږ مذهب ته بيا راواپس ګرځئ

فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۳﴾

پس وحی وکړه | دوی ته | د دوی رب | چه مونږ به ضرور هلاک کړو | ظالمان

نو خپل رب هغوئ ته وحی وکړه چه مونږ به ضرور ظالمان تباه کوؤ ۔

وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ

او مونږ به ضرور آباد کړو تاسو | په زمکه کښې | پس له دوی نه | دا د هغه چا د پاره ده | چه ويريږی

او تاسو به د هغوئ نه پس په دغه ملک کښې آباد کړُو ۔ دا (د انعام وعده) هر هغه چا سره ده چه زما

مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ وَاسْتَفْتَحُوا وَخَابَ

له ودرېدو نه زما په وړاندې | او وېرېږي | زما (د عذاب) د وعدې نه | او فتح وغوښتله دوی | او | نامراده شو

په وړاندې د اودرېدو نه او زما د عذاب د وعدې نه وېرېږي او هغوی فیصله وغوښتله او هر یو سرکش ضدي

كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿١٥﴾ مِّن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ

هر یو سرکشه | ضدي | وروستو د هغه نه | دوزخ دے | او په ده به څښولے شي | اوبه

بنده نامراده پاتې شو (او په قیامت کښې) د هغه مخې ته دوزخ پروت دے او په هغه به د ډېرې زوې غوښې

صَدِيدٍ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ

د نوونو | چه ګوټ ګوټ به څښي هغه | او نزدې نه ده چه تېر به کړے شي د حلق نه | او راځي به ده ته | مرګ

اوبه څښولې شي چه ګوټ ګوټ به ئې څښي او د ستوني نه به ئې ښکته کولے نه شي او د هرې غاړې نه به

مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِن وَرَائِهِ عَذَابٌ

له هر ځائے نه | او نه به وي دے | مړکېدونکے | او وروستو د ده به | عذاب وي

پرې مرګ راځي خو هغه به مړ کېږي نه . او په یو پسې بل سخت عذاب ته به

غَلِيظٌ ﴿١٧﴾ مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ۖ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ

ډېر سخت | مثال | د هغو خلقو | کوم چه کفر وکړو | د خپل رب سره | عملونه د دوی | پېشان د ایرو دي

ورمخامخ کېږي . چا چه د خپل رب نه انکار کړے دے ، د هغوی د عملونو مثال د هغه ایرې پېشان دے

اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ ۖ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا

چه سخت راوالوزي په هغې | باد | په ورځ د سیلۍ | نه به شي موندلے دوی | له هغو (عملونو) نه چه

چه د سیلۍ په ورځ ئې یو تیز او تند باد والوزوي ، څه چه دوی کړي دي کول په هغې کښې به په هیڅ

كَسَبُوا عَلَىٰ شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ

دوی کړي وي | هیڅ څیز | هم دا ده | ګمراهي | د لرې (سخته) | آیا تا نه دي کتلي | چه | الله

قابو نه شي موندلے . هم دا هغه (غرګنده) غټه ګمراهي ده ، آیا تا نه دي لیدلي ؟ چه الله تعالیٰ

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ

پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه | په حقه | که چرې هغه وغواړي | نو بو به ځي تاسو | او را به ولي

آسمانونه او زمکه په حقه پیدا کړي دي ، که هغه وغواړي نو تاسو به فنا کړي او بل نوے

بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾ وَبَرَزُوا

مخلوق | نوے | او نه ده دا | الله د پاره | څه ګرانه | او حاضر به شي دوی

مخلوق به راولي . او دا کار الله تعالیٰ ته هیڅ ګران نه دے . او دوئي ټول به

لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا

الله ته | ټول | بیا او به وائي | کمزورې خلق | هغو خلقو ته چه | چه غټ ورېدے کولو

الله تعالیٰ ته مخامخ کېږي ، نو (د دے دنیا) کمزوري خلق به (د دے دنیا) غټانو نه تپوس وکړي چه

إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا

بیشکه موږ وو | ستاسو | تابع | پس آیا | تاسو | لرې کوونکي یئ | له موږ نه

موږ خو ستاسو (د حکم) تابع وو نو بیا آیا تاسو زموږ نه د الله عذاب څه قدرې

مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ ۖ

عذاب | د الله | څه قدرې | دوی به ووائي | که چېرې هدایت کړی وې موږ ته الله | نو هم به کړې وو موږ تاسو ته

کمولی شئ؟ هغوی به ورته ووائي که الله موږ ته هدایت کړی وی نو موږ به تاسو هم

سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾

ع ۳ ۱۵

برابره ده | په موږ | که ناقلاره شو موږ | یا | صبر وکړو موږ | نشته دی موږ د پاره | هیڅ خلاصی -

کړی وو او اوس موږ ټولو ته یو شان خبره ده که چغې وهو او که صبر کوو خو زموږ خلاصی په هیڅ صورت کښې نشته

وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ

او وبه وائي | شیطان | هر کله چه | فیصله وکړې شي | د کار | بیشکه الله | وعده کړې وه تاسو سره

او چه د ټولو کارونو فیصله وشي نو شیطان به ووائي چه بیشکه الله تعالیٰ تاسو سره رښتینې وعده

وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم

وعده د رښتینې | او ما وعده کړې وه تاسو سره | بیا ما د هغې خلاف وکړو تاسو سره | او نه وو | زما | په تاسو باندې

کړې وه، او ما هم در سره وعده کړې وه نو وعده خلافي مې وکړه او زما په تاسو څه زور خو نه

مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا

څه زور | مګر دا چه | ما را وبللئ تاسو | بیا تاسو زما خبره ومنله | پس مه ملامته کوئ ما | او ملامته کړئ

چلیده، خو ما تاسو ته بلنه وکړه او تاسو زما خبره ومنله نو اوس ما مه ملامته کوئ بلکه خپل

أَنفُسَكُم ۖ مَّا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ ۖ إِنِّي

خپل ځانونه | نه زه | ستاسو فریاد آوریدونکی شم | او نه تاسو | زما فریاد آوریدونکي شئ | بیشکه زه

ځان ملامته کړئ (نن) نه زه ستاسو فریاد آوریدونکی شم او نه تاسو زما فریاد آوریدونکي شئ، نن زه په خپله

كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ ۗ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ

انکار کوم | له هغه څه نه | چه تاسو به شریکولم زه | له دې نه وړاندې | بیشکه | ظالمان چه دی | دوی د پاره

د هغې خبرې نه بیزاره یم چه تاسو به پخوا د خدائې سره شریک ګڼلم - بیشکه دا سې ظالمانو د پاره

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٢﴾ وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

به عذاب وی | درد ناک | او داخل به کړې شي | هغه خلق چه | ایمان ئې راوړې دی | او عمل ئې کړې وی

درد ناک عذاب (مقرر) دی، او چا چه ایمان راوړی دی او نیک کارونه ئې کړی دی، هغوی به

الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا

نیک | باغونو ته | چه بهیږي به | لاندې د هغې نه | نهرونه | دوی به همیشه وی | په هغې کښې

داسې باغونو ته داخلولی شي چه د هغې لاندې به نهرونه بهیږي، د خپل رب په حکم به هغوی

بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ ؕ تَحِیَّتُهُمۡ فِیۡهَا سَلٰمٌ ﴿۲۳﴾ اَلَمۡ تَرَ کَیۡفَ ضَرَبَ

په حکم | د رب د دوی | د دوی (د ملاقات) دعا به وي | په هغې کښې | سلام | آیا تا نهٔ دی کتلی | چه څنګه | بیان کړو

په دې کښې همیشه وي، او هلته به د هغوئ د ملاقات دعا "سلام" وي، آیا تا ونهٔ لیدل چه الله تعالیٰ

اللّٰهُ مَثَلًا کَلِمَةً طَیِّبَةً کَشَجَرَةٍ طَیِّبَةٍ اَصۡلُهَا ثَابِتٌ

الله | یو مثال | چه کلمه د خبره | پاکیزه | په شان د ونې | پاکیزې | چه جرړه د هغې | مضبوطه وي

څنګه د پاکې کلمې مثال بیان کړے دے چه هغه د یوې پاکې ونې په شان ده چه د هغې جرړه (په زمکه

وَّ فَرۡعُهَا فِی السَّمَآءِ ﴿۲۴﴾ تُؤۡتِیۡۤ اُکُلَهَا کُلَّ حِیۡنٍۭ بِاِذۡنِ

او | ښاخ د هغې | په آسمان کښې وي | ورکوي | خپله میوه | په هر یو | فصل کښې | په حکم

کښې) مضبوطه او ښاخ ئې په آسمان کښې دے، هغه د خپل رب په حکم سره په هر فصل کښې خپله میوه

رَبِّهَا ؕ وَ یَضۡرِبُ اللّٰهُ الۡاَمۡثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ

د رب خپل | او بیانوي | الله | مثالونه | خلقو د پاره | چه دوی

ورکوي، او الله تعالیٰ خلقو د پاره مثالونه ځکه بیانوي چه هغوئ تره نه

یَتَذَکَّرُوۡنَ ﴿۲۵﴾ وَ مَثَلُ کَلِمَةٍ خَبِیۡثَةٍ کَشَجَرَةٍ خَبِیۡثَةِ ۣ اجۡتُثَّتۡ

نصیحت حاصل کړي | او مثال | د خبرې ناپاکې | په شان د ونې ناپاکې دے | چه راویستلې شي

سبق واخلي. او د یوې ناپاکې خبرې مثال د یوې ناپاکې ونې په شان دے چه د زمکې له

مِنۡ فَوۡقِ الۡاَرۡضِ مَا لَهَا مِنۡ قَرَارٍ ﴿۲۶﴾ یُثَبِّتُ اللّٰهُ

د زمکې له پاسه نه | نشته دے هغې له | څهٔ مضبوطي | مضبوط ساتي | الله

پاسه نه را ویستلې شي (او) هغې د پاره هیڅ مضبوطیا نهٔ وي، الله تعالیٰ مومنان د دې پاخه خبرې

الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا بِالۡقَوۡلِ الثَّابِتِ فِی الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا وَ فِی الۡاٰخِرَةِ ۚ

هغه خلق چه ایمان راوړي | په خبرې | مضبوطې سره | په ژوندون د دنیا کښې | او په آخرت کښې (هم)

(کلمه طیبه) په برکت سره د دنیا په ژوندون کښې او په آخرت کښې (هم) مضبوط ساتي

وَ یُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِیۡنَ ۙ۟ وَ یَفۡعَلُ اللّٰهُ مَا یَشَآءُ ﴿۲۷﴾

او بې لارې کوي | الله | ظالمان | او | کوي | الله | هغه څهٔ چه غواړي

او الله تعالیٰ ظالمان ګمراه ساتي. او الله تعالیٰ چه څهٔ غواړي هغه کوي

اَلَمۡ تَرَ اِلَی الَّذِیۡنَ بَدَّلُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰهِ کُفۡرًا وَّ اَحَلُّوۡا قَوۡمَهُمۡ

آیا تا نهٔ دی کتلي | هغه خلقو ته | چه بدل ئې کړو | د الله نعمت (ایمان) | په کفر سره | او ورکوز ئې کړو | خپل قوم

آیا تا هغه خلق نهٔ دي لیدلي کوم چه د الله تعالیٰ نعمت په ناشکرئ بدل کړو او خپل قوم ئې (هم) د

دَارَ الۡبَوَارِ ﴿۲۸﴾ جَهَنَّمَ ۚ یَصۡلَوۡنَهَا ؕ وَ بِئۡسَ الۡقَرَارُ ﴿۲۹﴾ وَ جَعَلُوۡا

کور د هلاکت ته | (یعنی) په دوزخ کښې | هغوئ به داخلیږي په دې کښې | او (هغه) خرابه | ټیکاؤ ځا ده | او دوی جوړ کړي دي

هلاکت په کور یعنی په جهنم کښې ورکوز کړو چه تول به پکښې داخلیږي او هغه ډیره خرابه ټیکاؤ ځا ده او دې خلقو

لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ قُلْ تَمَتَّعُوْا فَاِنَّ

الله دَپاره | شریکان | چه بې لارې کړي (خلق) | دَ دهٔ دَ لارې نه | ووایه | تاسو فائدٔ واخلئ | بیا بیشکه

الله له شریکان جوړ کړي دي چه خلق دَ هغهٔ دَ لارې نه ګمراه کړي، ورته ووایه چه لږه فائدٔ واخلئ بیشکه

مَصِيْرَكُمْ اِلَى النَّارِ ۝٣٠ قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقِيْمُوا

ستاسو واپس کیدل | دَ دوزخ طرف ته دي | ووایه | زما بندګانو ته | کوموچه | ایمان راوړې دے | چه هغوئ قائم کړي

ستاسو واپس کیدل دوزخ طرف ته دي. (اے پیغمبره!) زما هغه بندګانو ته ووایه چه ایمان ئې راوړے دے چه هغوئ د

الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ

مونځ | او خرڅ دِ کړي | له هغه څهٔ نه | چه رزق ورکړے دے مونږ هغوئ | په پټه | او په ښکاره | وړاندې له دې نه

مونځونو پابندي وساتي او څهٔ چه مونږ ورکړي دي له هغې نه په پټه او په ښکاره (دَ نیکئ په لار کښې) خرڅ کوي وړاندې له دې نه

اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ۝٣١ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ

چه راشي | هغه ورځ | چه نه به وي اخستل خرڅول | په هغې کښې | او نه دوستي | الله | هغه ذات دے | چه پیدا ئې کړل

چه هغه ورځ راشي چه په کښې به اخستل خرڅول نه وي او نه به دوستي په کار راځي. الله هغه پاک ذات دے چا چه

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ

آسمانونه | او زمکه | او نازل ئې کړے | له آسمان نه | اوبهٔ | بیا ئې راوویستل | په دې سره

آسمانونه او زمکه پیدا کړل او دَ بره نه ئې اوبهٔ راوورولې ، بیا دَ هغې (اوبو) نه ئې

مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ

میوې | روزي | تاسو دَ پاره | او تابع ئې کړه | تاسو دَ پاره | کشتئ | چه روانه وي | په سمندر کښې

(مختلف) میوې تاسو له دَ رزق په طور پیدا کړې او تاسو دَ پاره ئې کشتئ تابع کړه چه دَ هغهٔ په حکم په

بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ۝٣٢ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

په حکم دَ دهٔ | او تابع ئې کړل | تاسو دَ پاره | دریابونه | او تابع ئې کړل | تاسو دَ پاره | نمر | او سپوږمئ

سمندر کښې روانه وي او ستاسو (فائدې) له ئې دریابونه تابع کړل او نمر او سپوږمئ ئې تاسو دَ پاره په کار ولګول چه

دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۝٣٣ وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ

همیشه روان | او تابع ئې کړل | تاسو دَ پاره | شپه | او ورځ | او ورئې کړل تاسو ته | له هر هغه څیز نه

همیشه روان وي ، او تاسو دَ پاره ئې شپه او ورځ مسخر کړل او تاسو له ئې هغه ټول څیزونه درکړل

مَا سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ

څهٔ چه | تاسو وغوښتل | او که چرې تاسو شمیرل وغواړئ | نعمتونه دَ الله | نو دَ به نهٔ شمیرلے شئ هغه

چه تاسو غوښتل ، او که تاسو دَ الله تعالٰی نعمتونه شمیرل غواړئ نو شمیره ئې پوره کولے نهٔ شئ

اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ۝٣٤ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ

بیشکه | انسان | ډیر ظالم | ډیر ناشکره دے | او هغه کله چه دوئیل | ابراهیم | اے زما ربه ! | جوړ کړه

بیشکه چه انسان ډیر بے انصافه ناشکره دے او کوم وخت چه ابراهیمؑ دُعا وکړه چه اے زما ربه ! دا ښار (مکه)

ع ٥ ١٧

هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّاجْنُبْنِیْ وَبَنِیَّ اَنْ نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَ ﴿۳۵﴾

دا | ښار | ځائے دَ امن | او لرے وُساته ما | او زما اولاد | (له دے نه) چه مونږ عبادت وکړو | دَ بتانو

دَ امن ځائے کړے ، او ما او زما اولاد دَ بتانو دَ عبادت نه بیچ وساتے.

رَبِّ اِنَّهُنَّ اَضْلَلْنَ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَنْ تَبِعَنِیْ

اے زما ربه! | بیشکه دوی | گمراه کړل | ډیر | خلق | پس چاچه | پیروی وکړه زما

اے زما ربه! دے بتانو خو ډیر خلق گمراه کړی دی ، نو څوک چه په ما پسے روان دی

فَاِنَّهٗ مِنِّیْ ۚ وَمَنْ عَصَانِیْ فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۶﴾ رَبَّنَآ

بیشکه هغه | له ما نه دے | او چاچه | نافرمانی وکړه زما | نو بیشکه ته | بخښونکے | مهربان یئے | اے زمونږه ربه!

هغوئ خو زما دی او څوک چه زما نافرمانی وکړی نو ته بخښونکے ډیر مهربانه یئے. اے زمونږه ربه!

اِنِّیْٓ اَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِیْ بِوَادٍ غَيْرِ ذِیْ زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ

بیشکه ما آباد کړه | خپل اولاد | په داسے وادئ کښے | چه بے فصله دے | ستا دَ کور (کعبے) سره

بیشکه ما خپل اولاد ستا محترم کور کعبے سره نزدے په بے اُوبو او بے گیاه میدان کښے

الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ فَاجْعَلْ اَفْئِدَةً

چه عزتمند دے | اے زمونږه ربه! | چه دوی قائم کړی | مونځ | پس کړه | زړونه

آباد کړو ، اے زمونږه ربه! دَ پاره دَدے چه دوئ دَ مونځونو پابندی وُساتی ، نو دَ څه خلقو زړونه

مِّنَ النَّاسِ تَهْوِیْٓ اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ

دَ خلقو | مائله | دَ دوی طرف ته | او روزی ورکړه دوی ته | له میوونه | چه دوی

دَ دوئ اړخ ته مائله کړے ، او دوئ له میوے روزی کړے چه ستا شکر

يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۷﴾ رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِیْ وَمَا نُعْلِنُ ۗ وَمَا يَخْفٰى

شکر وکړی | اے ربه زمونږه! | بیشکه تا ته معلوم دی | څه چه مونږ پټوو | او څه چه ښکاره کوو | او نه دے پټ

وُباسی. اے زمونږه ربه! بیشکه تا ته معلوم دی څه چه مونږ پټوو او څه چه څرگند وو ، او دَ الله تعالیٰ

عَلَى اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ ﴿۳۸﴾ اَلْحَمْدُ

دَ الله نه | هیڅ څیز | په زمکه کښے | او نه | په آسمان کښے | ټول تعریفونه

نه په زمکه کښے څه څیز پټ نه دے او نه په آسمان کښے. ټول تعریفونه الله

لِلّٰهِ الَّذِیْ وَهَبَ لِیْ عَلَى الْكِبَرِ اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ ۗ

الله لره دی | چاچه | ورکړل | ما له | په بوډاوالی کښے | اسماعیلؑ | او اسحاقؑ

دَ پاره دی چه ما ته ئے په سپینه یږیره (دوه ځامن) اسماعیل او اسحاق (علیهما السلام) ورکړل

اِنَّ رَبِّیْ لَسَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۹﴾ رَبِّ اجْعَلْنِیْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ

بیشکه | زما رب | آؤریدونکے | دَ دُعا دے | اے زما ربه! | جوړ کړه ما | قائموونکے | دَ مونځ

بیشکه زما ربّ دعاگانے آؤری. اے زما ربه! ما او زما اولاد (هم) دَ مونځ

وَمِنْ ذُرِّيَّتِي ۖ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ

او زما له اولاد نه (هم) | اے زمونږ ربه! | او قبوله کړه | دُعا زما | اے زمونږ ربه! | وُبخښه ما | او مور او پلار زما

پاښي وُساته ، اے زمونږ ربه! زما دُعا قبوله کړه. اے زمونږ ربه! ما او زما مور او پلار

وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا

او (ټول) مؤمنان | په کومه ورځ | چه به قائمیږي | حساب | او ته خیال مه کوه | چه الله | بے خبره دے | له هغه

او ټول مومنان وُبخښه په کومه ورځ چه به حساب کتاب کیږي. او ته دا گمان مه کوه چه الله تعالیٰ د ظالمانو

يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ ۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ

چه کوي ئے | ظالمان | بیشکه چه | هغه مهلت ورکړے دے دوی | تر هغه ورځے | چه غړیدلي به پاتے شي | په هغه کښے

د کارونو نه غافل دے ، هغوی ته ئے خو بس تر هغه ورځے پورے مهلت ورکړے دے چه سترگے به ئے

الْأَبْصَارُ ﴿٤٢﴾ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ

سترگے | منډے به وهي | اوچت کړي به ئے وي | خپل سرونه | نه به راواپس کیږي | د دوي طرفته

غړیدلے پاتے شي. هغوی خپل سرونه اوچت کړي منډے به وهي ، د هغوی نظر به د هغوی طرفته

طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ

نظر د دوي | او زړونه د دوي به | الوتي وي (له ویرے نه) | او ویروه | خلق | د هغه ورځے نه | چه را به شي په دوي

پسته نه راگرځي او زړونه به ئے الوتي وي. او (اے پیغمبره!) خلق د هغه ورځے نه اوویروه په کومه کښے چه به

الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ

عذاب | نو وائي به | هغه خلق چه | ظالمان ؤ | اے زمونږ ربه! | مهلت راکړه مونږ ته | تر موده نزدے پورے

په هغوی عذاب راشي ، نو هغه خلق کوم چه ظالمان دي وائي به اے زمونږ ربه! مونږ له لږ شان مهلت راکړه

نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ

مونږ به قبوله کړو | بلنه ستا | او پیروي به وکړو | د رسولانو | آیا تاسو به قسمونه نه خوړل | وړاندے له دے نه

چه مونږ ستا دعوت قبول کړو او د پیغمبرانو پیروي وکړو (د به وئیلے شي چه) آیا تاسو له دے نه وړاندے قسمونه نه خوړل؟

مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا

چه نشته تاسو له | هیڅ زوال | او اوسیدلي وئ تاسو | په ځایونو کښے | د هغو خلقو | کوموچه ظلم کړے وو

چه په تاسو به هیڅ رے زوال نه راځي ، حال دا چه تاسو د هغه چا په ځایونو کښے استوگن وئ چه په ځان ئے زیاتے

أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا

په خپلو ځانونو | او واضحه شوے وه | تاسو ته | (چه) څنگه | مونږ (سلوک) کړے وو | هغوی سره | او مونږ بیان کړي وو

کړے وو - او ښه ښکاره درته معلومه وه چه هغوی سره مونږ څه څه کړي وو ، او د هغوی مثالونه مو

لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ

تاسو ته پاره | مثالونه | او کړي دي دوي (د حق دین خلاف) | فریبونه خپل | او الله سره دي | فریبونه د دوي

درته آوړولي ؤ - او دوي خپل ټول فریبونه خلاص کړل او د دوي د فریبونو جواب الله تعالیٰ سره پروت وو

وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُوْلَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ

او اگر چه وو | د دوی تدبیر (داسې) | چه د خوزیږی (له ځایه) نه | غرونه | پس خیال مه کوه | په الله

اگرکه د دوی چالونه داسې دی (دانه) چالونه وو چه غرونه هم ورنه د ټینګې نه وو، نو دا گمان هیڅ مه کوه

مُخْلِفَ وَعْدِهٖ رُسُلَهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ

د مخالفت کوونکی | د وعدې خپلې | د رسولانو خپلو سره | بیشکه | الله | ډیر زبردست دی | بدله اخستونکې | په کومه ورځ چه

چه الله به خپلو پیغمبرانو سره وعده خلاف وکړی، بیشکه الله غالب بدله اخستونکې دې (دوئ د هغې ورځې نه

تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ

بدله کړې شي | زمکه | بې له دې زمکې نه | او آسمانونه (هم) | او ښکاره به شي دوی | الله ته

ووېرېږه) په کومه ورځ چه زمکه به بله زمکه شي او آسمانونه (به نور آسمانونه شي) او دوئ ټول به یو غالب الله

الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَىِٕذٍ مُّقَرَّنِيْنَ

چه یو دې | غالب دې | او ته به ویني ته | مجرمان | په دغه ورځ | تړلې شوی

ته ځرګند (او) مخامخ شي . او ته به ووینې چه مجرمان به په دغه ورځ به یو بل پورې په زنځیرونو

فِي الْاَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ

په زنځیرونو کښې | د دوی قمیصونه (به وی) | د ګوګړو | او پټ به کړی | مخونه د دوی

تړلې وی . د هغوئ قمیصونه به د ګوګړو نه جوړ وی . او په مخونو به ئې (د) اور (لمبه)

النَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

اور | چه بدله ورکړی | الله | هر یو | نفس ته | د هغه څه | چه ده کړې دی | بیشکه | الله

راخوره وی ، د پاره د دې چه الله تعالیٰ هر نفس له د خپل عمل بدله ورکړی ، بیشکه الله تعالیٰ

سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿٥١﴾ هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا

ډیر زر حساب اخستونکې دې | دا (قرآن) | پیغام دې | خلقو د پاره | او چه وویرولې شی دوی په دې سره | او چه دوی پوهه شی

حساب کتاب ډیر زر خلاصوی. دا (قرآن) د خلقو د پاره پوره پیغام دې او چه د دې په ذریعه هغوئ وویرولې شی او چه

اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٥٢﴾

چه بیشکه هم دې | معبود دې | یو | او چه نصیحت حاصل کړی | د عقل خاوندان

پوهه شي چه په حقیقت کښې الله یوازې معبود دې او چه د پوهې خاوندان ترې نه سبق واخلي

ع ٧ ١٩

سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّ تِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّ سِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة حجر په مکه کښې نازل شوې ده | (شروع) د الله په نوم سره چې نهایت مهربان ډیر زیات رحم کوونکې دې | د دې یو کم سل آیتونه او شپږ رکوعګانې دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د الله په نوم شروع کوم چه نهایت مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دې

الٓرٰ ۣ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿١﴾

الف لام ـ را ـ | دا | آیتونه دی | د کتاب | او د قرآن | روښانه

الف ـ لام ـ را دا د یو (کامل) کتاب او واضح قرآن آیتونه دی ـ

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۲﴾ ذَرْهُمْ

ډیر ځله | به آرزو کوي | هغه خلق | چه کافران شول | چه کاش دوی وے | مسلمانان | دوی پرېږده

هغه خلق کوم چه د کفر لار اختیار کړے ده دا آرزو به کوي چه اے کاش دوی مسلمانان شوی وے. دوی پرېږده

يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾

چه خوري | او فائده واخلي | او په غفلت کښې وساتي دوي لره | امید | بیا زر به | دوی پوهه شي

چه خوري (څښي) او فائده اخلي او (غلط) امیدونه ئے په غفلت کښې غورځوي پس د یر زر به ورته معلومه شي

وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۴﴾ مَا تَسْبِقُ

او نه دے هلاک کړے مونږ | هیڅ کلے | مګر | هغه د پاره | یو لیکلے شوے | وخت مقرر وو | نه شي وړاندې کیدلے

او مونږ هیڅ یو کلے نه دے هلاک کړے مګر د هغه د پاره یو لیکلے شوے وخت مقرر وو ، یو قوم د خپلے

مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۵﴾ وَقَالُوْا يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْ

هیڅ اُمت | د خپل مقرر وخت نه | او نه | هغه وروستو پاتے کیدے شي | او کافرانو دوی ئیل | اے هغه سړیه

نیټے نه نه خو وړاندې کېدے شي او نه وروستو پاتے کیدے شي. او دوی وائي چه اے هغه سړیه! چه

نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۶﴾ لَوْ مَا تَاْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ

په کوم چه نازل شوے دے | (دا) قرآن | بیشکه ته | دیوانه یې | ولے ته نه راولے مونږ ته | فرښته

(ستا د وینا مطابق) قرآن در باندې نازل شوے دے ته خو تیار لیونے یې. که رښتینے یې نو مونږ ته

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۷﴾ مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ

که چرې | یې ته | له رښتیا ویونکو نه | مونږ نه نازلوو | فرښتے | مګر | په حق سره

(غیبی) فرښتے ولے نه را مخامخ کوے. (ورته ووایه) مونږ خو هسے فرښتے نه رالیږو مګر په حق سره

وَمَا كَانُوْٓا اِذًا مُّنْظَرِيْنَ ﴿۸﴾ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ

او نه به شو ورکولے دوی ته | هغه وخت | مهلت | بیشکه مونږ | نازل کړو | دا ذکر (قرآن) | او بیشکه مونږ | د دغه

او هغه وخت به دوی ته هیڅ مهلت ورکولے نه شي. بیشکه دا قرآن مونږ نازل کړے دے او هم مونږ به ئے

لَحٰفِظُوْنَ ﴿۹﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۰﴾

حفاظت کوونکي یو | او بیشکه رالیږلي دي مونږ (پیغمبران) | وړاندې له تا نه | په ډلو د مخکنو امتونو کښې

پخپله حفاظت کوو. او بیشکه مونږ له تا نه وړاندې تیرو قومونو ته هم پیغمبران لیږلي وو،

وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۱﴾ كَذٰلِكَ

او نه به راتلو دوی ته | څوک | رسول | مګر دوی به هغه پورے | ټوقے کولے | دغه شان

او هیڅکله داسے نه وه شوے چه مونږ یو رسول لیږلے وي او هغوی ورپورے ټوقے نه وي کړے دغه شان

نَسْلُكُهٗ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۲﴾ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ

مونږ اچوو دا | په زړونو کښې | د ګناهګارانو | دوی ایمان نه راوړي | په دے | او بیشکه تیر شوے دے

مونږ دا (ټوقے) د مجرمانو په زړونو کښې وراچوو. دوی په دے (قرآن) ایمان نه راوړي او د مخکنو خلقو نه

سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ

اودوی په هغې کښې | له آسمان نه | یوه دروازه | په دوی | او که چرې پرانیزو موږ | دَ پخوانو خلقو | رسم

هم دغسې دستور راغلې دے ۔ او که موږ دوئ ته په آسمان کښې یوه دروازه پرانیزو بیا دوی په دې کښې

يَعْرُجُوْنَ ﴿۱۴﴾ لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ

هغه خلق یو | موږ | بلکه | زموږ سترګې | بندے کړے شوې | چه بیشکه | نو خامخا به ووائی | خیژی

بره هم وخیژی ۔ نو هم دا به وائی چه زموږ نظربندی وکړے شوه ۰ بلکه په موږ ده خو سم دم

مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِى السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّزَيَّنّٰهَا

او ښائسته کړے دې موږ دا | برجونه | په آسمان کښې | موږ جوړ کړل | او یقیناً | چه جادو راندې شوې دے

جادو وکړے شو او موږ ده په آسمان کښې غټ غټ ستوري جوړ کړي دي او هغه مو کتونکو ته

لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿۱۷﴾ اِلَّا مَنِ

مګر هغه څوک چه | مردود نه | شیطان | دَ هر | او حفاظت کړے دے موږ دَ دے | دَ کتونکو دَپاره

ښائسته کړي دي ، او هغه مو دَ هر شیطان مردود نه محفوظ کړي دي ۔ مګر څوک چه

اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸﴾ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا

خوره کړے ده موږ | او زمکه | روښانه | یوه شعله | پس ورلګی هغه پسے | ——— | په غلا واوري

په غلا خبره آوریدل وغواړي نو روښانه شعله ورپسے ورشي ۔ او موږ زمکه خوره کړے ده

وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِىَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَىْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿۱۹﴾

او موږ غورزولی دی | په دې کښې | غرونه | او راټوکولی دی موږ | په دې کښې | هر څیز | مناسب

او موږ په دے کښې غرونه اچولی دی او په هغې کښې مو هر قسم څیزونه په اندازه اندازه راټوکولی دی ۔

وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَاِنْ

او پیدا کړے دی موږ | تاسو دَپاره | په دې کښې | سامان دَ ژوند | او چه نه یئ تاسو | هغه ته | رزق ورکوونکی | او نه دے

او په هغې کښې مو تاسو له هم) دَ ژوند سامان جوړ کړے دې او هغه چاله (هم) چه تاسو ورله دَ روزئ انتظام نه کوئ. او

مِّنْ شَىْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۱﴾

هیڅ څیز | مګر | موږ سره دی | خزانے دَ هغې | او موږ نه نازلوو هغه | مګر په اندازے | مقرر دَ (سره)

هیڅ څیز داسے نشته چه دَ هغې خزانے موږ سره نه وي او موږ هغه په مناسب اندازے سره نازلوو

وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ ۚ

او لیږلی دی موږ | هوا ګانے | دَکے (دَ اوبونه) | پس راوروولی دی موږ | له آسمانه نه | اوبه | پس څښولی دی موږ تاسو هغه اوبه

او دَ اوبو نه ډک بادونه هم موږ ده رالیږو ، بیا موږ له آسمان نه اوبه راورَوو ، بیا موږ هغه اوبه په تاسو څښوو

وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْىٖ وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ

او نه یئ | تاسو دَ هغې | جمع کوونکی | او بیشکه موږ | ژوندی ورکوو | او موږ مرګ راولو | او هم موږ

او دَ غه اوبه تاسو پخپله راجمع کولے نه شئ ۔ او بیشکه هم موږ ژوند ورکوو او مرګ راولو او هم موږ په

ع ۱
۱۵
۱

الْوٰرِثُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا

وارثان یو | او بیشکه | مونږ ته علم دے | د وړاندینو خلقو (هم) | له تاسو نه | او بیشکه مونږ ته علم دے

وارثان یو ۔ او کوم خلق چه تاسو نه وړاندې تیر شوی دی مونږ هغه هم پیژنو او کوم چه تاسو نه وروستو راتلونکی دی

الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۭ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾

د وروستنو (هم) | او بیشکه | هم ستا رب به | جمع کړی دوی | بیشکه هغه | د حکمت خاوند | پوهه دے

هغه هم پیژنو ۔ او بیشکه ستا رب به دا ټول را جمع کړی ۔ هغه د حکمت خاوند په هر څه پوهه دے

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٦﴾

او بیشکه | پیدا کړے دے مونږ | انسان | او چه کړنګیدونکے خټې نه | تورے چقړے نه | څخاشوے

او بیشکه مونږ انسان د کړنګیدونکے تورے څخاشوے خټې نه پیدا کړے دے ۔

وَالْجَاۗنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ

او پیریان | مونږ پیدا کړی وو | له دے نه وړاندې | د اور | ګرم نه | او هر کله چه وویل | ستا رب

او پیریان مو د دے نه وړاندې د بے لوګی اور نه پیدا کړل ، او هر کله چه ستا رب

لِلْمَلٰۗىِٕكَةِ اِنِّىْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٨﴾

فرښتو ته | بیشکه زهٔ | پیدا کوونکے یم | د انسان | د اوچه کړنګیدونکے خټې نه | تورے چقړے نه څخاشوے ۔

فرښتو ته وویل چه بیشکه زهٔ انسان پیدا کوونکے یم د کړنګیدونکے تورے څخاشوے خټې نه

فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ

بیا هر کله چه | زهٔ ئے برابر جوړ کړم | او پو کړم | په دهٔ کښے | د خپل روح نه | نو تاسو پریوزئ | دهٔ ته

نو هر کله چه زهٔ ئے برابر جوړ کړم او د خپل طرف نه پکښے روح واچوم ، نو تاسو ورته په سجده

سٰجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰۗىِٕكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ

سجده کوونکی | پس سجده وکړه | فرښتو | ټولو د دوی | په جمع | سوا | د ابلیس نه

پریوزئ ، نو ټولو فرښتو ورته په جمع سجده وکړه خو یو ابلیس ورته نهٔ کړه

اَبٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا لَكَ اَلَّا تَكُوْنَ

دهٔ انکار وکړو | چه شی دے | د سجده کوونکو سره | دهٔ فرمائیل | اے ابلیس! | په تا څهٔ وشول | چه ته نهٔ شوے

هغهٔ سجده کوونکو سره د شاملیدو نه انکار وکړو ۔ الله تعالیٰ وفرمائیل اے ابلیس! په تا څهٔ وشول چه په

مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ

سره | د سجده کوونکو | دهٔ وویل | زهٔ (هغه) نهٔ یم | چه سجده وکړم | انسان ته | چه پیدا کړے دے تا هغه

سجده کوونکو کښے شامل نهٔ شوے ۔ هغهٔ وویل چه دا نهٔ شی کیدے چه زهٔ داسے انسان ته سجده وکړم

مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿٣٤﴾

د اوچه کړنګیدونکے خټې نه | د تورے چقړے نه | څخاشوے | دهٔ فرمائیل پس ووځه | دلته نه | پس بیشکه ته | رټلے شوے ئے

چه هغه تا د کړنګیدونکے تورے څخاشوے خټې نه پیدا کړے دے الله وفرمائیل دلته (جنت) نه ووځه بیشکه ته رټلے شوے ئے ۔

وَاِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٣٥﴾ قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ

او بیشکه | په تا باندې | لعنت دے | تر ورځې د جزا | وے وئیل | اے زما ربه ! | پس مهلت راکړه ماته

او په تا به تر قیامته لعنت وریږي ، هغه وویل اے زما ربه ! (بیا دې) ماته د حشر

اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِلٰى يَوْمِ

تر هغې ورځې چه | (مړي) به ژوندي شي | وفرمائیل | بیشکه ته | له مهلت ورکړے شوو نه یې | تر هغې ورځې پورې

تر ورځې پورے مهلت راکړه . (الله ورته) وفرمائیل (بیا دې) تاته مهلت دے ، تر هغې ورځې پورے

الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاُزَيِّنَنَّ

چه (د هغې) وخت مقرر دے | ده وویل | اے زما ربه ! | په سبب د دې چه تا زه گمراه کړم | نو زه به ضرور ښائسته کړم

چه د هغې وخت (ماته) معلوم دے . ده وویل چه اے زما ربه ! لکه څنګه چه تا زه گمراه کړے یم نو زه به

لَهُمْ فِى الْاَرْضِ وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٣٩﴾ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ

دوی ته (گناه) | په زمکه کښې | او زه به ضرور گمراه کړم دوی | ټول | مگر ستا بندگان | له هغو نه

هم د غضب دوی ته د مزکے په مخ (گناهونه) ښائسته ښکاره کړم او ټول به خامخا گمراه کړم سوا ستا د هغه بندگانو

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيْمٌ ﴿٤١﴾ اِنَّ عِبَادِيْ

چه مخلص دي | وفرمائیل | هم دا ده | لاره | ما پورے | نیغه | بیشکه (کوم چه) زما بندگان (دي)

نه چه مخلص دي الله وفرمائیل ماته د رارسیدو هم دا نیغه لاره ده ، زما په بندگانو به یقیناً

لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ اِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَاِنَّ

نشته دے | ستا | په هغوی باندې | څه غلبه | مگر هغوک چه | پیروي وکړي ستا | له گمراهانو نه | او بیشکه

ستا زور نه چلیږي — مگر په هغه خلقو چه څوک ستا پیروي کوي او گمراه شوي وي او دوزخ

جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ

دوزخ | ځائے د وعدے دے د دوی | د ټولو | د دے | اووه (٧) دروازے دي | د هرے دروازے دپاره

یقیناً د دے ټولو د وعدے ځائے دے ، د دے اووه دروازے دي ، د هرے دروازے

مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُوْمٌ ﴿٤٤﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٤٥﴾ ٣ ع ١٩ ٣

له دوی نه | برخه ده | جدا کړے شوے | بیشکه | پرهیزگاران به | په باغونو | او چینو کښې (وي)

د پاره په دوی کښې جدا جدا برخه مقرر ده . بیشکه پرهیزگاران به په باغونو او چینو کښې د سیرې

اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ

تاسو داخل شئ په دې کښې | په سلامتۍ سره | په امن سره | او مونږ به وباسو | هغه څه | چه د دوی په سینو کښې دي

(ورته به ویلے شي) چه تاسو په دې کښې په امن او سلامتۍ سره داخل شئ ، او مونږ د دوی د سینو نه چه څه (بغض)

مِّنْ غِلٍّ اِخْوَانًا عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٤٧﴾ لَا يَمَسُّهُمْ فِيْهَا

له کینې نه | (دوی به) ورونړه ورونړه | په تختونو (ناست) | یو بل ته مخامخ | نه به رسي دوی ته | په دې کښې

کینه وي وبه باسو چه د ورونړو په شان به یو بل ته مخامخ په تختونو ناست وي په هغه ځائے کښې به پرے

نَصَبٌ وَّمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ ﴿۴۸﴾ نَبِّئْ عِبَادِيْٓ

څهٔ تکلیف | او نهٔ به | دوی | دَ دے نه | ویستلے شی | خبر ورکړه | زما بندګانو ته

څهٔ تکلیف نهٔ راځی او نهٔ به ترے نه چرے بهر ویستلے شی۔ (اے نبی) زما بندګانو ته خبر ورکړه چه زهٔ

اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۴۹﴾ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ

چه بیشکه زهٔ | بخښونکے | مهربان یم | او بیشکه | زما عذاب | هم دا | عذاب

ډیر بخښونکے زیات رحم کوونکے یم۔ او زما عذاب هم ډیر دردناک عذاب

الْاَلِيْمُ ﴿۵۰﴾ وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ ﴿۵۱﴾ اِذْ دَخَلُوْا

دردورکوونکے دے | او خبر ورکړه دوی ته | دَ میلمنو | دَ ابراهیم | هرکله چه دوی داخل شول

دے۔ او دوی ته دَ ابراهیم علیه السلام دَ میلمنو قصه واوروه ، هرکله چه دوی هغهٔ له

عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا

په دهٔ | نو دوی ووئیل | سلام | (ابراهیم) ووئیل | بیشکه مونږ | له تاسو نه | ویریږو | دوی ووئیل

ورغلے نو دوی سلام وکړو ، (ابراهیم) ووئیل چه مونږ خو له تاسو نه ویریږو۔ دوی ووئیل چه

لَا تَوْجَلْ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ﴿۵۳﴾ قَالَ اَبَشَّرْتُمُوْنِيْ

مهٔ ویریږه | بیشکه مونږ | زیرے درکوو تا ته | دَ هلک | هوښیار | دهٔ ووئیل | آیا تاسو زیرے راکوئ ما ته

چه ته مهٔ ویریږه مونږ تا ته دَ یو هوښیار ځوئ دَ پیدا کیدو زیرے درکوو۔ ابراهیم علیه السلام ووئیل چه تاسو

عَلٰٓى اَنْ مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ ﴿۵۴﴾ قَالُوْا

سره دَ دے چه | رسیدلے دے ما ته | بوډاوالے | نو دَ څهٔ | زیرے راکوئ تاسو | دوی ووئیل

ماله په دے حال کښے زیرے راکوئ چه زهٔ بوډا شوے یم پس دَ څهٔ خبرے زیرے راکوئ۔ فرښتو ووئیل

بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ﴿۵۵﴾ قَالَ وَمَنْ

زیرے درکوو مونږ تا ته | په رښتیا | پس مهٔ کیږه ته | له نا اُمیده خلقو نه | دهٔ ووئیل | او څوک

مونږ تا له دَ یو رښتینی څیز زیرے درکوو ، نو ته نا اُمیده کیږه مهٔ۔ ابراهیم علیه السلام ووئیل ، دَ

يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴿۵۶﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ

نا امیده کیږی | له رحمت نه | دَ رب خپل | سوا دَ ګمراهانو نه | دهٔ ووئیل | پس څهٔ | مهم کار ستاسو

ګمراهانو نه سوا څوک دی چه دَ خپل رب نه به نا اُمیده کیږی دهٔ ووئیل چه اے فرښتو! تاسو

اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۷﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۵۸﴾

اے | رالیږلے شوو (فرښتو) | دوی ووئیل | بیشکه مونږ | رالیږلی شوی یو | طرف دَ یو قوم ته | چه مجرمان دی

په څهٔ پسے راغلی یئ ؟ دوی ووئیل چه مونږ دَ نافرمانو دَ یو قوم طرف ته رالیږلے شوی یو.

اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِلَّا امْرَاَتَهٗ قَدَّرْنَآ ۙ

سوا دَ لوط دَ خاندان نه | بیشکه مونږ به خامخا نجات ورکړو دوی | ټولو ته | سوا | دَ دهٔ دَ ښځے نه | مونږ مقرر کړے دے

سوا دَ لوط دَ کور والو نه ، مونږ به دوی ټول بچ کړو ، سوا دَ هغهٔ دَ ښځے نه چه مونږ فیصله کړے ده چه هغه

وقف لازم

إِنَّهَا لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ ۞٦٠ فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ِۨ الْمُرْسَلُوْنَ ۞٦١

بیشکہ ھغہ | بہ لہ پاتے کیدونکی نہ وی | پس ھرکلہ چہ | راغلے | خاندان د لوط (تہ) | رالیږلے شوے (فرښتې)

بیشکہ وروستو پاتے کیدونکو نہ دہ ، پس ھرکلہ چہ فرښتې د لوط علیہ السلام کور تہ راغلے ۔

قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ۞٦٢ قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا

دہ ووئیل | بیشکہ تاسو | خلق یئ | نا آشنا | دوی ووئیل | (نہ) بلکہ | راوړے دے مونږ تا تہ | ھغہ (عذاب)

دہ ورتہ ووئیل تاسو خو نا آشنا خلق ښکارئ ۔ دوی ورتہ ووئیل چہ نہ بلکہ مونږ خو درتہ ھغہ څیز

كَانُوْا فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ۞٦٣ وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۞٦٤

چہ پہ ھغې کښې بہ | دوی شک کولو | او راوړے دے مونږ تا تہ | رښتینی (حکم) | او بیشکہ مونږ | رښتینی یو

راوړے دے چہ دوی بہ پکښې شک کولو ۔ او مونږ تا تہ یقینی واقع کیدونکے څیز راوړے دے او مونږ بالکل رښتینی یو ۔

فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ

نو اوباسہ | خپل کور والا | پہ یوہ برخہ کښې | د شپې | او تہ ځہ | د دوی نہ وروستو

نو د شپې پہ یوہ برخہ کښې خپل کور والا اوباسہ او تہ د ورپسې وروستو وروستو ځہ

وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ تُؤْمَرُوْنَ ۞٦٥

او شا تہ دې نہ گوری | لہ تاسو نہ | ھیڅوک | او لاړ شئ | د کوم ځائے | چہ تاسو تہ حکم کیږی

او پہ تاسو کښې دې ھیڅوک شا تہ نہ گوری او د کوم ځائے چہ درتہ حکم شوے دے ھلتہ لاړ شئ ۔

وَقَضَيْنَآ اِلَيْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ

او مونږ فیصلہ ولیږلہ | طرف د ھغہ تہ | د دې خبرے | چہ | جرړہ | د دې خلقو | بہ پریکړے شی

او مونږ د ھغہ (لوط) طرف تہ د دې خبرې فیصلہ ولیږلہ چہ صبا راخیژی نو د دې خلقو بہ جرړې

مُّصْبِحِيْنَ ۞٦٦ وَجَآءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۞٦٧ قَالَ اِنَّ

د صبا کیدو سرہ | او راغلل | ښار والا | چہ خوشحالی ئے کولہ | دہ ووئیل | بیشکہ

غوڅې شوی وی او (پہ دے کښې) د ښار خلق خوشحالہ خوشحالہ راغلل ، (لوط) ووئیل چہ دا خلق

هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِيْ فَلَا تَفْضَحُوْنِ ۞٦٨ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ ۞٦٩

دا خلق | زما میلمانہ دی | پس تاسو ما مہ رسوا کوئ | او وویریږئ | د الله نہ | او ما مہ بے عزتہ کوئ

خو زما میلمانہ دی پس تاسو ما مہ شرموئ ۔ او د الله تعالیٰ نہ ویریږئ او زما بے عزتی مہ کوئ

قَالُوْٓا اَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۞٧٠ قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيْٓ

دوی ووئیل | آیا مونږ تہ نہ وې منع کړے | د ټولے دنیا (د مرستے) نہ | دہ ووئیل | دا | زما لونړہ دی (د دوی سرہ نکاح وکړئ)

دوی ووئیل آیا مونږ تہ د ټول جہان (د حمایت) نہ نہ یې منع کړے ؟ (لوط) ووئیل دا زما لونړہ دی (د دوی سرہ نکاح وکړئ)

اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۞٧١ لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۞٧٢

کہ چرې یئ تاسو | کوونکی | ستا پہ ژوندم د قسم وی | بیشکہ دوی | پہ خپلہ نشہ کښې | پاندہ کانړہ وو

کہ تاسو څہ کول غواړئ ۔ (اے نبی) ستا پہ ژوندم د قسم وی چہ ھغوی پہ خپلہ نشہ کښې ړاندہ کانړہ شوی وو

فَاَخَذَتۡهُمُ الصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِيۡنَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلۡنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا

پس ونیول هغوی | هیبت ناک آواز | په وخت د نور ختو کښې | پس کړه مونږ | د کلی پاسنئ برخه | د دې ښکته

نو نیو راختو سره دوی پورې هیبتناکې چغې ونیول . بیا مونږ د دې کلو پاسنئ برخه لاندې کړله

وَاَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةً مِّنۡ سِجِّيۡلٍ ﴿٧٤﴾ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ

او مونږ ووروول | په دوی باندې | کانړی | له ټټکا نړو نه | بیشکه | په دې کښې

او مونږ په دوی باندې د ګنګرو کانړی ووروول ، یقیناً په دې کښې د غور او

لَاٰيٰتٍ لِّلۡمُتَوَسِّمِيۡنَ ﴿٧٥﴾ وَاِنَّهَا لَبِسَبِيۡلٍ مُّقِيۡمٍ ﴿٧٦﴾ اِنَّ

نخښې دی | غور او فکر کوونکو د پاره | او بیشکه دغه (کلی) دی | په یوه نیغه لاره باندې | بیشکه

فکر کوونکو د پاره نخښې دی . او بیشکه هغه (کلی) په نیغه آباده لاره باندې (پروت) دی ، بیشکه

فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٧٧﴾ وَاِنۡ كَانَ اَصۡحٰبُ الۡاَيۡكَةِ

په دې کښې | نخښې دی | مؤمنانو د پاره | او بیشکه وو | اوسیدونکی د بڼ

په دې کښې د ایمان والو د پاره نخښې دی . او د بڼ اوسیدونکی (یعنی د شعیب د قوم خلق)

لَظٰلِمِيۡنَ ﴿٧٨﴾ فَانۡتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ ۘ وَاِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيۡنٍ ﴿٧٩﴾

ظالمان | پس بدله واخسته مونږ | له دوی نه | او بیشکه دواړه (کلی) | په ښکاره لاره (پراته) دی

هم ډیر ظالمان وو . او مونږ له دوی نه بدله واخسته او دا دواړه (برباد شوی) کلی په لویه لاره باندې پراته دی

وَلَقَدۡ كَذَّبَ اَصۡحٰبُ الۡحِجۡرِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿٨٠﴾ وَاٰتَيۡنٰهُمۡ اٰيٰتِنَا

او بیشکه دروغ وګڼل | اوسیدونکو | د حجر (وادئ) | پیغمبران | او ورکړې مونږ دوی ته | خپلې نخښې

او د حجر (وادئ) اوسیدونکو خلقو هم پیغمبران دروغژن وګڼل او مونږ دوی ته هم خپلې نخښې ورکړې

فَكَانُوۡا عَنۡهَا مُعۡرِضِيۡنَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوۡا يَنۡحِتُوۡنَ مِنَ الۡجِبَالِ

پس دوی وو | له هغې نه | مخ اړوونکی | او دوی | به تراشل | د غرونو نه

خو هغه خلقو ترې نه مخ وته ګرځول . او دوی به په غرونو کښې کورونه کنستل او

بُيُوۡتًا اٰمِنِيۡنَ ﴿٨٢﴾ فَاَخَذَتۡهُمُ الصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِيۡنَ ﴿٨٣﴾

کورونه | چه په امن وسیږی | نو ونیول دوی (هم) | یوې چغې | په وخت د صبا کښې

او بې غمه به په کښې اوسیدل . نو دوی (هم) د سحر وخت کښې یوې چغې ونیول

فَمَاۤ اَغۡنٰى عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقۡنَا

پس په کار رانغلو | د دوی | هغه (مال) چه | دوی ګټلے وو | او نه دی پیدا کړی مونږ

نو څه چه ګټلی وو هغه ئې هیڅ په کار رانغلل او مونږ آسمانونه او

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَاۤ اِلَّا بِالۡحَقِّ ؕ وَاِنَّ

آسمانونه | او زمکه | او څه چه | د دې دواړو په مینځ کښې دی | مګر په حق سره | او بیشکه

زمکه او څه چه د دې دواړو په مینځ کښې دی بې کاره نه دی پیدا کړی ، او بیشکه

السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ اِنَّ رَبَّكَ

قیامت | خامخا راتلونکې دې | پس صفح واړوه | صفح اړول | په ښه طریقه | بیشکه | رب ستا

قیامت خامخا راتلونکې دے ، نو ته په ښه طریقه د دوئ نه مخ وګرځوه ، بیشکه ستا رب د هر څیز

هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ

هم دے ډیر پیدا کوونکے | پوهه | او بیشکه مونږ درکړي دي تاته | اووه (آیتونه) | چه بیابیا لوستلے شي

خالق دے په هر څه پوهه دے ۔ او مونږ تاته داسے اووه (آیتونه) درکړي دي چه مکرر لوستلے شي

وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا

او قرآن | عظمت والا | مه غوړوه | خپل نظرونه | طرف د هغه څه ته | چه فائده ورکړې مونږ

او لوئے قرآن (مو درکړے دے) ته خپلې سترګې قدر له هم په هغه څیزونو پسې مه پورته کوه چه مونږ

بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ

په هغې | جماعتونو ته | له کافرانو نه | او مه غمژن کیږه | په دوی باندې | او رانښکته کړه

ورکړې دے (کافرانو) مختلفو قسمونو له ورکړي دي ، او د دوئ په حقله غم مه کوه (دوئ پریږده) او ایماندارو

جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ اِنِّيْٓ اَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٩﴾

مټې خپلې | ایمان والو د پاره | او ووایه | بیشکه زه یم | ویروونکے | ښکاره ۔

ته خپل ځان نرم کړه ۔ او دا ووایه چه زه خو بس ښکاره ویروونکے یم ۔

كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ

په شان د هغه (عذاب) چه مونږ نازل کړے وو | په هغه تقسیمونکو (کافرانو) | کوم چه | کړے وو | قرآن

لکه څنګه چه مونږ (عذاب) نازل کړو په هغه قسم خوړونکو باندې چا چه قرآن ټوټې ټوټې

عِضِيْنَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾

ټوټې ټوټې | پس قسم دے په رب ستا | مونږ به ضرور تپوس کوو دوی | ټولو نه | د هغه عملونو په حقله چه دوی به کول ۔

کړے وو ، نو ستا په رب م دِ قسم وي چه مونږ به د ټولو نه تپوس کوو د هغه کارونو په حقله چه دوی کول ۔

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٩٤﴾

پس صفا صفا اوروه | هغه څه چه | تاته ئے حکم درکولے شي | او لرې ډسیږه | له مشرکانو نه

نو تاته چه د کوم کار حکم شوے دے هغه صفا صفا اوروه او د مشرکانو پروا مه کوه ۔

اِنَّا كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ﴿٩٥﴾ الَّذِيْنَ يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا

بیشکه مونږ کافي یو تا د پاره | د توقو کوونکو (خلاف) | کوم خلق چه | جوړوي | الله سره | معبودان

مونږ تاله د ملنډو کوونکو کسانو په مقابله کښې کافي یو او هغه خلق چه د الله تعالیٰ سره بل معبود

اٰخَرَۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ يَضِيْقُ صَدْرُكَ

نور | پس ژر به | دوی ته معلوم شي | او بیشکه مونږ پوهیږو | چه تنګیږي | ستا سینه (زړه)

هم مني نو ډیر ژر به ورته (حقیقت) معلوم شي ۔ او مونږ ته ښه معلومه ده چه د دوی په وینا کانو

بِمَا يَقُوْلُوْنَ ﴿۹۷﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ
دَ هغه څه نه | چه دوی وائی | پس پاکی بیانوه | په تعریف سره | دَ خپل رب | او شه
بانې ستا زړه تنګیږی نو ته دَ خپل رب په تعریف سره پاکی بیانوه . او په سجده کوونکو
مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿۹۹﴾
له سجده کوونکو نه | او عبادت کوه | دَ خپل رب | ترڅو چه | راشی تاته | یقینی خبره (یعنی مرګ)
کښې شامل اوسه او دَ خپل رب عبادت کوه . ترڅو چه یقین درته (مرګ ته) راشی ـــــ .

سُوْرَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّثَمَانٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة نحل په مکه کښې نازل شوی په دی کښې ۱۲۸ ایتونه او ۱۶ رکوع ګانې دی
(شروع) دَ الله په نوم چه لوئی مهربان دیر زیات رحم کوونکی دی
شروع کوم دَ الله په نوم سره چه لوئی مهربان دَ دیر زیات رحم خاوند دے

اَتٰٓى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى
راغے | حکم دَ الله | پس ته تلوار مه کوه دَ هغې دپاره | هغه پاک دے | او اوچت دے
دَ الله تعالیٰ حکم راغے نو تاسو دَے دَپاره تلوار مه کوئی ، هغه پاک دے او دَ هغه څیزونو نه (دیر)
عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱﴾ يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ
له هغه څه نه | چه دوی شریک جوړوی | هغه نازلوی | فرښتے | په وحی سره
اوچت دے چه دوی ئے ورسره شریکوی ، هغه فرښتے دَ وحی سره په خپل حکم
مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اَنْ اَنْذِرُوْٓا
په خپل حکم سره | په چا چه وغواړی | له خپلو بندګانو نه | چه | اوبیروئ
رانازلوی په خپلو بندګانو کښې چه په چا باندې وغواړی چه تاسو اوبیروئ
اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ ﴿۲﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
دَ دې نه چه | نشته بل معبود | سوا زما نه | پس هم له ما نه ووېریږئ | پیدا کړل هغه | آسمانونه
چه زما نه سوا بل څوک معبود نشته پس هم له ما نه ووېریږئ ـ هغه آسمانونه او زمکه
وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۳﴾ خَلَقَ
او زمکه | په حکمت سره | لوئے دے | له هغه څه نه | چه دوی شریک جوړوی | پیدا کړو هغه
په حکمت سره پیدا کړی دی ، هغه دیر اوچت دے دَ دوی دَ شریکانو نه ـ هغه انسان
الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ﴿۴﴾
انسان | له منی نه | پس ناګهانه | هغه شو | جګړه مار | ښکاره
دَ یو څاڅکی نه پیدا کړو ، بیا هغه په ښکاره (دَ خدائے په باره کښې) په جګړه شو ـ
وَالْاَنْعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ فِيْهَا دِفْءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا
او څاروی | هغه پیدا کړل دا | تاسو دَپاره | په هغې کښې | ګرمه جامه | او فائدے دی | او ځینې له هغې نه
او هغه څاروی پیدا کړل چه په هغې کښې تاسو له ګرمه جامه هم ده او (نورے) فائدے هم دی او دَ هغې نه

تَأْكُلُونَ ﴿٥﴾ وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ

تاسو خورئ | او تاسو دپاره | په دې کښې | ښائست (دے) | کوم وخت چه | ماښام ئې واپس راولئ | او هر کله چه

تاسو (قسم قسم) خوراکونه کوئ او تاسو دپاره په دے کښے ښائست او شان دے چه ماښام ئې (کورته) واپس راولئ

تَسْرَحُونَ ﴿٦﴾ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ

د صباح ئې بوځئ | او هغوی وړی | بارونه ستاسو | هغه ښار طرف ته | چه نه وئ تاسو | رسیدونکی هغې ته

او کله چه سحر ئې څرځائے ته بوځئ او هغوی ستاسو درانه درانه بوجونه داسے لرے لرے ښارونو ته وړی چه تاسو

إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾ وَالْخَيْلَ

مګر په مشقت | د ځانونو | بیشکه | ستاسو رب | ډیر مهربان | رحم کوونکے دے | او (پیدا ئې کړل) اسونه

بغیر د ډیر مشقت نه رسیدلے نه شوئ، بیشکه ستاسو رب مهربان رحم کوونکے دے. او هغه اسونه او

وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا

او قچرے | او خرونه | چه تاسو سوارۀ شئ په هغې باندې | او (هغه) ښائست دی | او هغه پیدا کوی | هغه څه

قچرے او خرونه پیدا کړی دی چه تاسو پرے سورلئ کوئ او ښائست موهم دے، او هغه داسے څیزونه

لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ ۚ

چه تاسو نه پوهیږئ. | او الله ته (رسیږی) | نیغه | لاره | او په دے کښے (ځنې لارې) | کږے دی

پیدا کوی چه تاسو پرے نه پوهیږئ او نیغه لاره خو الله تعالیٰ ته ور رسیږی او په دې کښے ځنې لارې کږے هم دی

وَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩﴾ هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ

او که چرې هغه غوښتلے | نو لازمًا به ئې بوتلی وه تاسو | ټول ته | هم هغه دے | چا چه | رادُورولے | له آسمان نه

او که هغه غوښتلے نو تاسو ټولو ته به ئې هدایت کړے وو. الله تعالیٰ داسے ذات دے چا چه له آسمان نه تاسو دپاره

مَاءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾

اوبۀ | تاسو دپاره | له دے نه | څښل دی | او له دې نه | (زرغونیږی) اوښے | چه په دې کښے | تاسو څروئ (څاروی)

اوبۀ راوُورولے، هم له دے نه تاسو څښئ او هم له دې نه اوښے زرغونیږی چه تاسو په کښے څاروی څروئ

يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ

هغه زرغونوی | تاسو دپاره | په دے (اوبو) سره | فصلونه | او | ښونن | او د قجورې (ونې)

او د دے (اوبو) په ذریعه تاسو دپاره فصلونه، ښونن، قجورے، انګور

وَالْأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً

او انګور | او د هر قسم | میوے | بیشکه | په دے کښے | نخښه ده

او د هر قسم نورے میوے زرغونوی، بیشکه په دے کښے د غور او فکر کوونکو

لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١١﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ

هغه قوم له | چه فکر کوی | او تابع ئې کړله | تاسو دپاره | شپه | او ورځ | او نُور

دپاره غټه نخښه پرته ده. او هغهٔ تاسو دپاره شپه او ورځ تابع کړل، او نُور

وَالْقَمَرَ ؕ وَالنُّجُوْمُ مُسَخَّرٰتٌۢ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

او سپوږمۍ | او ستوري (هم) | تابع دي | دَ هغهٔ په حکم | بیشکه | په دې کښې

او سپوږمۍ هم ـ او ستوري هم دَ هغهٔ دَ حکم تابع دي ـ بیشکه په دې کښې ډیرې نخښې

لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَمَا ذَرَاَ لَكُمْ فِی الْاَرْضِ مُخْتَلِفًا

نخښې دي | هغو خلقو دَ پاره | چه عقل لري | او څهٔ چه | هغهٔ پیدا کړل تاسو لره | په زمکه کښې | مختلف دي

پرته دي هغه خلقو دَ پاره چه دَ عقل نه کار اخلي ـ او کوم رنګ په رنګ څیزونه چه هغهٔ په زمکه کښې پیدا کړي دي

اَلْوَانُهٗ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ یَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَهُوَ الَّذِیْ

رنګونه دَ دې | بیشکه | په دې کښې | نخښه ده | هغو خلقو دَ پاره | چه غور کوي | او هم هغه دے | کوم چه

هغه هم تاسو دَ پاره دي، بیشکه په دې کښې سوچ کوونکو خلقو دَ پاره نخښې دي ـ او هم هغه دے چا چه

سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَاْكُلُوْا مِنْهُ لَحْمًا طَرِیًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْیَةً

تابع ئې کړو | دریاب | چه تاسو خورئ | له دې نه | غوښه | تازه | او چه تاسو راوباسئ له دې نه | کالے

سمندر تابع کړو چه تاسو له دے نه (ښکار) تازه غوښه وخورئ او تاسو له دے نه کالي راوباسئ چه

تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِیْهِ وَلِتَبْتَغُوْا

چه تاسو ئې اغوندئ | او ته وینې | کشتۍ | (اوبهٔ) شلوي روانې وي | په دے کښې | او چه تاسو لټوئ

تاسو ئې اغوندئ او ته ګورې چه کشتۍ (دَ دریاب) اوبهٔ شلوي (او روانې وي) داځکه چه تاسو دَ الله

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَاَلْقٰى فِی الْاَرْضِ رَوَاسِیَ

دَ هغهٔ فضل | او چه تاسو | شکر کوئ | او هغهٔ وغورزول | په زمکه کښې | غرونه

فضل تلاش کړئ او چه دَ هغهٔ شکر اوباسئ ـ او په زمکه کښې ئې دَ غرونو میخونه کینبودل چه

اَنْ تَمِیْدَ بِكُمْ وَاَنْهٰرًا وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَعَلٰمٰتٍ ؕ

چه (نهٔ) زغږوي | تاسو | او دریابونه | او لارے | چه تاسو | لاره بیا مومئ | او څهٔ نورې نخښې (هم)

تاسو (بوا پخ ته) ونهٔ زغږي او دریابونه ئې او لارے ئې جوړې کړے چه تاسو لار بیا مومئ او (دغه شان نورې هم)

وَبِالنَّجْمِ هُمْ یَهْتَدُوْنَ ﴿۱۶﴾ اَفَمَنْ یَّخْلُقُ كَمَنْ

او په ستورو (هم) | دوی لاره مومي | پس آیا هغه (الله) چه | پیدا کوي | په شان دَ هغه چا دے

ډیرې نخښې ئې جوړې کړے او دَ ستورو په ذریعه خلق لارے بیا مومي ـ پس آیا څوک چه پیدا کول کوي دَ هغه چا په شان

لَّا یَخْلُقُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

چه هیڅ هم نهٔ پیدا کوي؟ | بیا آیا تاسو غور نهٔ کوئ؟ | او که چرے | تاسو شمیرل غواړئ | دَ الله نعمتونه

کیدے شي چه هیڅ نهٔ پیدا کوي نو آیا تاسو (دومره قدر هم) غور نهٔ کوئ؟ او که تاسو دَ الله دَ نعمتونو شمیره کول غواړئ

لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ

نو دَ هغه شمیرلے نشئ هغه | بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | او الله | پوهه دے | په هغه څه | چه تاسو پټوئ

نو دَ هغے شمیره نهٔ شئ کولے بیشکه الله بخښونکے ډیر رحم کوونکے دے او الله تعالیٰ ته معلوم دي هغه څهٔ چه تاسو پټوئ

وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿١٩﴾ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او په هغه څه چه تاسو ئې ښکاره کوئ | او هغه څيزونه | چه دوی ئې بلي | سوا د الله نه

اوهغه هم چه تاسو ئې ښكاره كوئ. او كوم چه دوی د الله تعالیٰ نه سوا بلی، هغوی

لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ

هغوی نه پيدا كوی | هيڅ څيز | او هغوی خو پخپله پيدا كولے شي | مړه دی | نه دی ژوندی

هيڅ هم نه شي پيدا كولے بلكه هغوی پخپله پيدا كړے شوی دی، هغه خو مړه دی ژوندی نه دی

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٢١﴾ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ ع ۱۲ / ۸

او دوی نه پوهيږی | چه كله به | دوی راپورته كولے شي | ستاسو معبود (خو) | معبود | يو دے

او دوی نه پوهيږی چه كله به دوی راپورته كولے شي. ستاسو معبود هم يو معبود دے

فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ

پس كوم خلق چه | ايمان نه راوړی | په آخرت | زړونه د دوی | منكر دی

نو څوك چه په آخرت باندے يقين نه لری د هغوی زړونه منكر دی،

وَّهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا

او دوی | غرور كوی | يقيناً | چه الله | پوهيږی | په هغه څه

او هغوی ځان ته غاوره دی. يقيني خبره ده چه الله تعالیٰ پوهيږی په هغه څه چه

يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿٢٣﴾

چه دوی ئې پټوی | او په هغه څه | چه دوی ئې ښكاره كوی | بيشكه هغه | نه خوښوی | غرور كوونكی

دوی ئې پټوی او په هغه هم چه دوی ئې ښكاره كوی بيشكه هغه مغرور خلق نه خوښوی۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ مَّاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۙ قَالُوْٓا

او هركله چه | وويلے شي | دوی ته | څه | نازل كړی دی ؟ | ستاسو پروردگار | نو دوی وائي

او هر كله چه د دوی نه تپوس وشي چه ستاسو رب څه را نازل كړی دی نو وائي چه (بس هم هغه)

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَّوْمَ

قصے دی | د پخوانو خلقو | چه دوی به اوچتوی | خپل پيټی (د گناهونو) | پوره پوره | په ورځ

د پخوانو خلقو (بے سنده) قصے. (نتيجه به ئې دا وی) چه د قيامت په ورځ به د خپلو گناهونو پيټی هم

الْقِيٰمَةِ ۙ وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اَلَا سَآءَ

د قيامت | او څه | پيټی | د هغو خلقو | چه دوی ئې گمراه كوی | بغير د علم نه | واوره! | بد دی

پوره اوچتوی او د هغو خلقو د گناهونو پيټی هم چه دوی ئې بغير د علم نه گمراه كړی دی، څومره خراب دی

مَا يَزِرُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتَى اللّٰهُ ع ۱۳ / ۹

هغه څه | چه دوی ئې اوچتوی | بيشكه تدبيرونه كړی وو | هغو خلقو چه | له دوی نه وړاندې وو | پس راغے (حكم) د الله

دغه پيټی چه دوی به ئې اوچتوی. د دوی نه وړاندې خلقو هم (د حق خلاف) تدبيرونه كړل پس د دوی په

بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ

دَدوی دَ عمارت (دَغورزولو) | دَ بنیادونو نه | پس را پریوتلو | په دوی باندې | چت | دَ پاسه دَ دوی

په عمارت دَ الله تعالیٰ (عذاب) دَ بنیادونو نه راغے ، پس چت دَ دوی دَ پاسه نه را پریوتلو

وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ٢٦ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ

اوراغے په دوی | عذاب | دَ کوم ځائے نه چه | دَدوی خیال نه وو | بیا به دَ قیامت په ورځ | دوی رسوا کړی

او په دوی دَ داسے طرف نه عذاب راغے چه دَ دوی پرے گمان هم نهٔ وو بیا به ئے الله دَ قیامت په ورځ هم

وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تُشَاقُّونَ فِيهِمْ

او وَبه وائی | کوم ځائے دی | زما شریکان | هغه چه | تاسو به | جگړه کوله (مومنانو سره) | دَ هغے په باره کښے

رسوا کړی، ورته به وائی چه اوس دَ بنایی چه زما هغه شریکان کوم ځائے دی؟ چه تاسو به دَ هغوی په حقله (دَ مؤمنانو سره)

قَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوءَ

وائی به | هغه خلق | کوم ته چه ورکړے شوے وو | علم | بیشکه | رسوائی | نن ورځ | او سختی

جگړے کولے۔ نو دَ علم خاوندان به ووائی چه نن (په ورځ) رسوائی او بدبختی په هغه کافرانو

عَلَى الْكَافِرِينَ ٢٧ الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ

په کافرانو دہ | په هغو خلقو چه | قبض کول به روحونه دَ دوی | فرښتو | دوی ظلم کولو | په خپلو ځانونو

دہ ، چه فرښتو ترے نه په داسے حال کښے روحونه قبض کړی دی چه تکیا دوی په ځان ئے ظلم کولو

فَأَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوءٍ ۚ بَلَىٰ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ

پس دوی به پیش کړی | صلح | چه مونږ خو به نه کول | څهٔ بدی | ولے نه | بیشکه الله | پوهه دے

نو بیا به هغوی دَ صلح خبره را مخکښے کړی چه مونږ خو هیڅ بدی نهٔ کول، ولے نه! بیشکه الله تعالیٰ نه ستاسو

بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ٢٨ فَادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ

په هغه څهٔ | چه تاسو به کول | پس داخل شئ | په دروازو کښے | دَ دوزخ | همیشه به وُسیږئ | په هغے کښے

دَ ټولو عملونو خبر دے۔ نو اوس دَ دوزخ دروازو ته ورننوځئ ، په دے کښے به همیشه پراته یئ

فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ٢٩ وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا

پس بد دے | ځائے | دَ کبرژنو | او وَ ویلے شو | هغو خلقو ته | چه پرهیزګار دی

دَ مغرورو خلقو دَ پاره څومره خرابه ټیکاؤنړه دہ. او خوک چه متقیان دی دَ هغوی نه چه تپوس وُشی

مَاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا خَيْرًا ۗ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا

چه څهٔ | نازل کړی دی | ستاسو رب | نو دوی وائی | نیکے خبرے | هغو دَ پاره | کوم چه نیکی وکړه

چه ستاسو رب څهٔ را نازل کړی دی؟ نو جواب به ورکړی چه دَ ډیر ښهٔ (کلام) ، کومو خلقو چه نیکی وکړه

فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ ۚ وَلَنِعْمَ

په دے دنیا کښے | نیکه بدله دہ | او خامخا کور | دَ آخرت | غوره دے | او ډیر ښهٔ دے

هغوی دَ پاره په دے دُنیا کښے نیکه بدله دہ او البته دَ آخرت کور دَ ټولو نه بهتر دے او دَ پرهیزګارو هغه

دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۰﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

کور | دَ پرهيزګارانو | باغونه دي | دَ هميشه | چه دوى به داخليږي دې ته | بهيږي به | لاندې دَ دے نه

کور ډير ښهٔ دے. هغه دَ هميشه اوسيدو باغونه دي په کومو کښې چه به دوى داخليږي دَ دے لاندې نهرونه

الْاَنْهٰرُ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ ؕ كَذٰلِكَ يَجْزِي اللّٰهُ

نهرونه | دوى دَ پاره | به وي په دې کښې | څهٔ چه دوى غواړي | دغه شان | جزا ورکوي | الله

بهيږي هلته چه به دوى څهٔ غواړي هغه به ورته ملاوېږي ، پرهيزګارانو ته الله تعالىٰ هم دغه

الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۱﴾ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيْنَ ۙ يَقُوْلُوْنَ

پرهيزګارانو ته | هغه چه | قبض کوي روحونهٔ دَ دوى | فرښتې | (په دې حال کښې چه) دوى پاک وي | (دوى ته) وائي

شان بدله ورکوي ، دا هغه خلق دي دَ کومو روحونه چه فرښتې (په دې حال کښې) ګرځي چه دوى پاک وو ، فرښتې به

سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۲﴾

سلام دې وي | په تاسو | داخل شئ | جنت ته | دَ هغو (عملونو) په بدله کښې | چه تاسو کول .

ورته وائي چه په تاسو دې سلام وي ، او دَ خپلو (نيکو) عملونو په بدله کښې جنت ته ورننوځئ .

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ

آيا دوى انتظار کوي | صرف دَ دے | چه راشي دوى ته | فرښتې | يا راشي | حکم ستا دَ رب

آيا دوى (کفار) صرف په دې انتظار کښې دي چه دوى ته فرښتې راشي يا ستا دَ رب حکم (عذاب يا قيامت) راشي؟

كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ

هم دغه شان | کړے وو | هغو خلقو | چه له دوى نه وړاندې وو | او نهٔ وو کړے ظلم په دوى | الله | ليکن

دغه شان هغو خلقو هم کړي وُو چه دَ دوى نه مخکښې تيرشوي دي ، او الله تعالىٰ په دوى هيڅ ظلم نهٔ وو کړے

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ

دوى پخپله | په خپلو ځانونو | ظلم کولو | پس ورسيدلے دوى ته | بدے (نتيجے)

بلکه دوى پخپله په خپلو ځانونو ظلم کولو . نو آخر دوى ته دَ خپلو عملونو سزا

مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۴﴾ ع ۹ ۱۰

دَ دوى دَ عملونو | او راتاؤ شو | په دوى | هغه (عذاب) | کوم پورے چه | به دوى ټوقے کولے

ورسيدله او هغه عذاب ترے نه راچاپيره شو چه دوى به ورپورے ټوقے کولے .

وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا

او دوئيل | هغو خلقو | کومو چه شرک وکړو | که چرے غوښتلے | الله | نو موږ به عبادت نهٔ وو کړے

او ووئيل هغو خلقو چه شرک ئے کړے وو ، که چرے الله تعالىٰ غوښتلے نو نهٔ به موږ دَ الله نه

مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُوْنِهٖ

سوا دَ (الله) نه | دَ څهٔ څيز | موږ | او نهٔ زموږ پلار نيکهٔ | او نهٔ به موږ حرام کړے وو | دَ دهٔ دَ حکم نه بغير

سوا دَ څهٔ څيز عبادت کړے وو او نهٔ زموږ پلار نيکهٔ . او نهٔ به موږ دَ هغهٔ دَ حکم نه بغير څهٔ

مِنْ شَيْءٍ ۭ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ

پس آيا | له دوی نه وړاندې وو | هغه خلقو چه | كړی وو | هم دغه شان | څهٔ څيز

څيز حرام كړے وو ، هم دغسے بهانے هغه خلقو هم كړے وے چه د دوئ نه مخوا تير شوی دی ، نو د پيغمبر په

عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ

په هريو | او بيشكه مونږ ليږلے دے | ښكاره نه | بنكاره | د تبليغ | سوا | (څهٔ نور هم) شته | د رسولانو په ذمه

ذمه خو بس دومره قدرے كار دے چه صفا صفا (ويئا) ورته ورسوی او مونږ په هر قوم كښے يو نه يو

اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ

امت كښے | يو پيغمبر | چه عبادت كوئ | د الله | او ځان ساتئ | له بتانو نه

پيغمبر ضرور ليږلے دے (چه ورته او وايه چه اے خلقو!) د الله تعالیٰ عبادت كوئ او د بتانو (د عبادت) نه ځان ساتئ

فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللّٰهُ وَمِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ

پس ځينې له دوئ نه | هغه څوک وو | چه ورته هدايت كړے | الله | او ځينې له دوئ نه | هغه څوک وو | چه ثابته شوه | په هغه باندې

نو په دوی كښے ځينې داسے دی چه الله تعالیٰ ورته هدايت وكړو او ځينې داسے دی په كومو چه گمراهي ثابته

الضَّلٰلَةُ ۭ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

گمراهي | پس وگرځئ | په زمكه كښے | پس وگورئ چه | څنگه | شو | انجام

شوه ، نو تاسو لږ په ملک كښے وگرځئ او وگورئ چه د دروغژن گڼړونكو خلقو انجام

الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٦﴾ اِنْ تَحْرِصْ عَلٰى هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ

د دروغ گڼړونكو | كهٔ چرے | ته خواهش وكړے | په سمه لار د راوستو د دوی | نو بيشكه | الله

څهٔ شو ؟ كهٔ ستا دا تمنا وی چه دوئ به په سمه لار روان شي نو الله تعالیٰ هغه څوک

لَا يَهْدِيْ مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٧﴾

لار نهٔ ښائ | هغه چا ته كوم چه | هغه گمراه كړی | او نشته دے د دوی | څوک مدد گار

په سمه لار نهٔ بوځي چه يو ځل ئے د عناد په وجه گمراه كړے وی او نهٔ د داسے خلقو څوک مدد گار شته ـ

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ

او دوی قسمونه خوړی | په الله | سخت | قسمونه | چه نهٔ به راپاسوی | الله | څوک چه

او دا خلق د الله تعالیٰ سخت قسمونه خوری چه الله تعالیٰ به هغه دوباره نهٔ راژوندے كوی څوک

يَّمُوْتُ ۭ بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٨﴾ۙ

مړشي | ولے نه ! | وعده ده | د هغهٔ په ذمه | رښتينې | ليكن | اكثر خلق | نهٔ پوهيږی

چه مړشي ـ ولے نه ! دا وعده خو د الله تعالیٰ په ذمه لازمه ده ليكن اكثر خلق نه پوهيږی ـ

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِيْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

چه واضح كړی | په دوی | هغه خبره | چه دوی اختلاف كولو په هغې كښے | او چه پوهه شي | هغه خلق

(دوباره به ئے ځكه ژوندی كوی) چه په دوی د هغه څيز حقيقت واضح كړی په كوم كښے چه دوی اختلاف كولو او چه د كافرانو

كَفَرُوٓا اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰذِبِيْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَیْءٍ

چه کافران دی | چه بیشکه دوی | کافران وو . | بیشکه | زمونږ وینا | یو څیز ته

یقین راشي چه هم دوی دروغجن وو . مونږ چه د یو څیز د پیدا کولو اراده

اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٤٠﴾ وَالَّذِيْنَ ع ۶ / ۱۱

هرکله چه مونږ د هغه اراده وکړو | نو مونږ وایو | هغه ته | شه | نو هغه شي | او کوم خلق چه

وکړو ، نو بس دومره ورته وایو چه "اوشه" نو هغه اوشي . او چا چه د

هَاجَرُوْا فِی اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ

هجرت وکړو | الله د پاره | پس له دے نه | چه په دوی ظلم وشو | خامخا به مونږ دوی له ځائ ورکړو

الله تعالیٰ د پاره هجرت کړے دے ، پس له دے نه چه ظلمونه پرے شوی وو ، نو مونږ به ورله په دنیا

فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً ؕ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا وقف لازم

په دنیا کښے | ښه | او اجر | د آخرت | ډیر لوئے دے | کاش! هغه خلق

کښے هم ډیره ښه ټیکاڼه ورکړه ، او د آخرت اجر خو ډیر لوئے دے . کاش! هغه (جهرت نه

يَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٤٢﴾

پوهیدے | کوم خلق چه | صبر وکړو | او په خپل رب باندې | ئے توکل وکړو .

پاتے کیدونکی) پوهیدے . دا هغه خلق دی کوم چه د صبر نه کار واخستو او په خپل رب باندې ئے توکل وکړو

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِیْۤ اِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا

او نه دی لیږلی مونږ (پیغمبران) | له تا نه وړاندې | مګر سړی | وحی به راليږله مونږ | هغوی طرف ته | پس تپوس وکړئ

او (اے پیغمبره!) مونږ له تا نه وړاندې هم (بل څوک نه بلکه) سړی پیغمبران لیږلی دی چه وحی به مو ورته لیږله نو د

اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ ؕ وَاَنْزَلْنَآ

د عالمانو نه | که چرے تاسو | نه پوهیږئ | په دلیلونو | او کتابونو سره | او نازل کړو مونږ

عالمانو نه تپوس وکړئ که تاسو پخپله نه پوهیږئ (هغوی موږ) بکاره دلیلونو او کتابونو سره (لیږلی وو) او مونږ

اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ

ستا طرف ته | (دا) قرآن | چه ته بیان کړے | خلقو ته | هغه څه چه نازل کړے شو | د دوی طرف ته | او چه دوی

ستا طرف ته کتاب نازل کړے دے چه خلقو د پاره (هغه کلام) واضحه کړے کوم چه د دوی طرف ته نازل کړے شوے او چه

يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٤﴾ اَفَاَمِنَ الَّذِيْنَ مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّخْسِفَ النصف

غور او فکر وکړی | آیا بے ویرے شول | هغه کوم چه | تدبیرونه وکړل | بد | چه ننباسی

دوی د فکر نه کار واخلی . آیا هغه خلق کوم چه بد بد تدبیرونه اختیاروی بے ویرے شوی دی چه الله تعالیٰ

اللّٰهُ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ

الله | دوی | په زمکه کښے | یا راشي په دوی | عذاب | کوم ځائے نه چه

دوی به زمکه کښے ننباسی ، یا به دوی باندې عذاب راشي چه د دوی په دهم

لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۴۵﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ فِيْ تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۴۶﴾

دوی ته خبرهم نه وی | یا هغه ونیسی دوی | په تګ راتګ کښې د دوی | پس نه دی دوی عاجزه کوونکی

او ګمان کښې هم نه وی۔ یا دوی په تګ راتګ کښې (ناګهانه) راونیسی، دوی په هیڅ شان هم (الله) عاجزه کولے

اَوْ يَاْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ ؕ فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۷﴾

یا هغه ونیسی دوی | د ویرے په حالت کښې | پس بیشکه ستاسو رب | ډیر مهربان | رحم کوونکے دے۔

نه شی، یا په داسے حالت کښې دوی ونیسی چه دوی ویریدلی وی، بیشکه ستاسو رب ډیر مهربان (او) رحم کوونکے دے۔

اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ يَّتَفَيَّؤُا

آیا نه دی | کتلی دوی | طرف د هغه څه ته | چه پیدا کړی دی | الله | له څیزونو نه | چه کرځی

آیا دوی چرے داسے څیزونه نه دی لیدلی کوم چه الله تعالیٰ پیدا کړی دی چه د هغے سوری

ظِلٰلُهٗ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلّٰهِ وَهُمْ

سوری د هغے | له ښی طرف نه | او له ګس طرف نه | سجده کوونکی | او دوی

ښی او ګس طرف ته ګرځی، الله تعالیٰ ته سجدے کوی او دوی

دٰخِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

عاجزی کوونکی دی | او الله ته | سجده کوی | څه چه په آسمانونو کښے دی | او څه چه په زمکه کښے دی

فرمانبرداره دی۔ او (ټول) د الله تعالیٰ تابع دی څومره ګرځیدونکی څیزونه چه په آسمانونو کښے دی او

مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ

له جاندارو نه | او فرښتے (هم) | او دوی | غرور نه کوی۔ | دوی ویریږی | د خپل رب نه

څومره چه په زمکه کښے دی او فرښتے (هم) او دوی خپل ځان لوئے نه ګنړی، د خپل هغه رب نه ویریږی

مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ۩ السجدة وَقَالَ اللّٰهُ

چه د دوی د پاسه دے | او دوی کوی | هغه څه چه | دوی ته ئے حکم کولے شی | او ووئیل | الله

چه د دوی د پاسه (غالب) دے او هم هغه کار کوی د کوم چه دوی ته حکم کولے شی۔ او الله تعالیٰ فرمائی

لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ

مه نیسئ | معبودان | دوه | بیشکه | هغه خو | معبود دے | یو

چه تاسو دوه معبودان مه نیسئ، (یاد ساتئ) چه بیشکه معبود صرف یو دے۔

فَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۵۱﴾ وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

پس هم له ما نه | ویریږئ | او هم د هغه دی | څه چه | په آسمانونو کښے | او زمکه کښے دی

پس هم له ما نه ویره کوئ۔ او څه چه په آسمانونو کښے دی او څه چه په زمکه کښے دی ټول هم د هغه دی

وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ؕ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَا

او هم د هغه | بندګی | واجب ده | پس آیا غیر | د الله نه | تاسو ویریږئ | او هغه څه چه

او هم د هغه عبادت لازم دے، آیا تاسو د الله تعالیٰ نه سوا د نورو نه ویریږئ او تاسو سره

بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ

تاسو سره دی | له نعمت نه | پس دَ الله دَ طرف نه دی | بیا هر کله چه | تاسو ته رسیږی | تکلیف | نو هغهٔ ته

چه څهٔ نعمت دے نو هغه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے بیا هر کله چه تاسو ته څهٔ تکلیف رسیږی نو تاسو هم هغهٔ

تَجْـَٔرُوْنَ ۝٥٣ ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ

فریاد کوئ | بیا هر کله چه | لرے کړی | تکلیف | له تاسو نه | نو هم هغه وخت | یوه ډله

ته فریاد کوئ ، بیا هر کله چه له تاسو تکلیف لرے کړی نو له تاسو نه څهٔ خلق فوراً دَ خپل رب

مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ۝٥٤ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ

له تاسو نه | خپل رب سره | شریک مقرروی | چه دوی ناشکری وکړی | دَ هغه څهٔ | چه ورکړی دی موږ دوی ته

سره شریک مقرروی . دَ پاره دَ دے چه څهٔ موږ دوی له ورکړی دی دَ هغے ناشکری وکړی

فَتَمَتَّعُوْا ۗ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝٥٥ وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ

پس تاسو فائدهٔ واخلئ | پس ډیر زر | به تاسو ته معلوم شی | او مقرروی دوی | دَ پاره دَ هغو چه | دوی پرے نهٔ پوهیږی

نو (څو ورځے) مزے وکړئ زر به تاسو ته حال معلوم شی. او دوی هغه چا له چه دوی ئے څخه په نهٔ پیژنی، زموږ

نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ۗ تَاللّٰهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ۝٥٦

برخه | له هغه څهٔ نه | چه موږ ورکړل دوی ته | په الله قسم | خامخا به پوښتنه کیږی له تاسو | دَ هغه څهٔ چه تاسو ئے له ځان نه تړلی

په ورکړی رزق کښے برخه مقرروی ، قسم په الله دے چه تاسو نه به خامخا دَ دے بهتانونو په حقله پوښتنه کیږی

وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ ۙ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ۝٥٧

او دوی مقرروی | الله دَ پاره | لونړه | پاک دے هغه | او ځان دَ پاره | څهٔ چه دوی غواړی (یعنی ځامن)

او دوی الله تعالیٰ له لونړه مقرر رے کړی دی (حالانکه هغه پاک دے) او ځان له هغه څهٔ غواړی کوم چه دَ دوی خوښ

وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا

او هر کله چه زیرے ورکړے شی | یو له په دوی کښے | دَ جینئ | نو شی | مخ دَ دهٔ | تور

وی (یعنی ځامن) حال دا دے چه هر کله په دوی کښے چا ته دَ لور زیرے واورولے شی نو دَ هغهٔ مخ تک تور شی

وَّهُوَ كَظِيْمٌ ۝٥٨ يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْٓءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ۗ

او دے له غم نه ډک وی | پټیږی | له خلقو نه | په وجه دَ شرم | دَ هغه څهٔ | چه دهٔ ته زیرے ورکړے

او هغه خفه شی ، دَ کوم څیز چه دهٔ ته زیرے ورکړے شو دَ هغے دَ شرم په وجه هغه دَ قوم نه پټ مخ کرځی

اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ اَمْ يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ۗ اَلَا سَآءَ

چه وساتی دا | په ذلت سره | یا ښخه کړی دا | په خاوره کښے | یاد ساته بد دے

(او سوچ کوی) چه ذلت گوزغمی او (لور ژوندۍ) پریږدی یائے په خاورو کښے ښخه کړی ، یاد ساته چه دَ دوی

مَا يَحْكُمُوْنَ ۝٥٩ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ مَثَلُ

هغه څهٔ | چه دوی ئے فیصله کوی | کوم خلق چه | ایمان نهٔ لری | په آخرت | دَ دوی مثال

دا فیصله ډیره خرابه ده ، کوم خلق چه په آخرت ایمان نهٔ راوړی دَ هغوی مثال ډیر

السَّوْءِ ۚ وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٦٠

بد دے | او الله دپاره دے | مثال | د ټولو نه اوچت | او هغه ډیر غالب | خاوند د حکمت دے۔

خراب دے او د الله تعالیٰ شان ډیر اوچت دے او هغه زبردست د حکمت خاوند دے۔

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَاۗبَّةٍ

او که چرې | و نیسی | الله | خلق | په وجه د ظلم د دوی | نو پرې به نښدی | په دے (زمکه) | څه خزنده وګرځیدونکے

او که چرے الله تعالیٰ خلق د دوی د ظلم په وجه نیولے نو هغهٔ به د زمکے په مخ هیڅ ساه دار نهٔ وو پرېښے

وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَاۗءَ اَجَلُهُمْ

لیکن | هغه مهلت ورکوی دوی ته | تر وخت | مقرر پورے | بیا چه کله راشی | مقرر وخت د دوی

لیکن هغه دوی ته یو مقرر وخت پورے مهلت ورکوی ، بیا هر کله چه د دوی وخت راشی

لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۝٦١ وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ

نو وروستو به پاتے نهٔ شی دوی | یو ساعت | او نهٔ به وړاندې لاړ شی | او دوی مقرروی | الله د پاره

نو نهٔ به یو ساعت وروستو کیدے شی او نهٔ به وړاندې کیدے شی ، او (دا) دوی الله له هغه څهٔ

مَا يَكْرَهُوْنَ وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اَنَّ

هغه څهٔ چه | دوی لرے نهٔ خوښوی | او بیانوی | ژبے د دوی | دروغ خبره | چه

مقرروی چه پخپله خپل ځان له ئے نهٔ خوښوی ، (او د دوی ژبے دروغ وائی ، چه

لَهُمُ الْحُسْنٰى ۭ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَاَنَّهُمْ

دوی د پاره | ښهٔ حال دے | لازمی خبره ده | چه | دوی د پاره | دوزخ دے | او بیشکه دوی

د دوی په برخه کښے تش ښهٔ والے دے ، دوی له خوبس یو څیز دے چه هغه د دوزخ اور دے او بیشکه دوی

مُّفْرَطُوْنَ ۝٦٢ تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ

به وړاندې لیږلے شی (دوزخ ته) | د الله قسم | بیشکه | مونږ لیږلی وو (پیغمبران) | د اُمتونو طرف ته | له تانه وړاندې

به (دوزخ ته) وړاندې لیږلے شی ۔ د الله قسم مونږ له تانه وړاندې هم امتونو طرف ته پیغمبران لیږلی دی

فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ

بیا ښائسته کړل | دوی د پاره | شیطان | عملونه د دوی | پس هغه | ملګرے دے د دوی | نن ورځ

بیا شیطان د دوی (خراب) عملونه دوی ته ښائسته ښکاره کړل ، پس نن هغه د دوی دوست دے

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝٦٣ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

او دوی د پاره | عذاب دے | دردناک | او نهٔ دے | نازل کړے مونږ | په تا باندې | کتاب

او دوی (ټولو) د پاره دردناک عذاب دے۔ او مونږ په تا باندې داکتاب حُکمه نازل کړے دے

اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةً

مګر | د پاره د دے چه ته بیان کړے | دوی ته | هغه خبره | چه دوی به اختلاف کولو په هغے کښے | او هدایت | او رحمت

چه تهٔ د دوی اختلافی خبرے دوی ته په ښهٔ شان واضحه کړے ، او (دا کتاب) د مؤمنانو د پاره

لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَاللَّهُ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا

هغه خلقوله | چه ایمان راوړی | او الله | راکوزوولے | له اسمان نه | اؤبه پس ژوندئی کړله

هدایت او رحمت دے . او الله تعالیٰ د بره نه اؤبه راووروولے نو د هغے په ذریعه ئے

بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ

هغه خلقو د پاره | نخښه ده | په دے کښے | بیشکه | پس له مرګ (شاړیدو) د هغے نه | زمکه | په د ئے سره

زمکه د اوچیدو نه پس بیا ژوندئی کړه . په دے کښے هغه چا له غټه نخښه پرته ده چه خبرے

يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾ وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا

له هغه څه نه | مونږ څښوو تاسو ته | عبرت دے | په څارویو کښے | تاسو د پاره | او بیشکه | چه اؤري (په غور سره) ع

ته غوږ بږدي . او تاسو د پاره په څارویو کښے هم یو لوئے سبق (پروت) دے ، مونږ د هغوئ د خیټو

ع ٨ ۱۴

فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا

مزیدار | خالص | پئ | او وینه نه | د سوټے | له مینځ | چه په خیټو د دوی کښے دی

د سوټو او د وینو د مینځ نه تاسو له صفا او مزیدار پئ څښلو له

لِّلشَّارِبِينَ ﴿٦٦﴾ وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ

له هغے نه | چه تاسو جوړوئ | او د انګورو هم | د قجورو | او له میوو نه | څښونکو د پاره

درکوو . او د قجورو او د انګورو له میوو نه تاسو د نشے څیزونه

سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

چه عقل لري | هغه خلقو د پاره | نخښه ده | په دے کښے | بیشکه | ښه (هم) | او روزي | نشه

جوړوئ او ښهٔ رزق هم (حاصلوئ) ، بیشکه په دے کښے نخښه ده هغو خلقو د پاره چه عقل لري .

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا

کورونه | له غرونو نه | چه ته جوړوه | د شاتو مچئ ته | ستا رب | او الهام وکړو

او ستا رب د شاتو د مچئ په زړهٔ کښے دا خبره واچوله چه ته په غرونو ، کورونو ، او نو او په

وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ

له هر قسم میوو نه | بیا خوره | چه دوی ئے چتونه جوړوي | او له هغه څه نه | او له ونو نه

هغو اوچتو اوچتو عمارتونو کښے چه خلق ئے جوړوي کور جوړ کړه . بیا هر قسم میوے وخوره

فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ

د څښلو څیز (شات) | له خیټو د هغے نه | راوځي | چه آسانے دی | د خپل رب | په لارو | بیا روانه شه

بیا د خپل رب په آسانو لارو باندې ځه . د دوی د خیټو نه د څښلو یو څیز (شات) وځي

مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

بیشکه په دے کښے | خلقو د پاره | شفاء ده | په هغے کښے | رنګونه د هغے | مختلف دی

چه رنګونه ئے مختلف دی په هغے کښے خلقو د پاره شفا ده ، بیشکه په دے کښے هغو خلقو

لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ ۙ قف

نخښه ده | هغو خلقو د پاره | چه فکر کوی | او الله | پیدا کړی تاسو | بیا | به مرګ کړی تاسو

له نخښه پرته ده چه د فکر نه کار اخلی . او الله تاسو پیدا کړی بیا به هم هغه تاسو له مرګ درکوی

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰۤى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَیْ لَا يَعْلَمَ

او له تاسو نه ځنې هغه څوک دی | چه ورګرځولے شی | ډیر د خوارئ عمر ته | چه | نه پوهیږی

او له تاسو نه ځنې ناکاره عمر (سخت بوډاوالی) ته رسولے شی چه د پوهے نه پس بیا (سرد وباق

ع ٩ ٥ ١٥ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٧٠﴾ وَاللّٰهُ

پس د پوهیدو نه | په څه څیز | بیشکه | الله | پوهه | د قدرتونو خاوند دے | او الله

په څه پوهه نه شی ، بیشکه الله تعالیٰ په هر څه پوهه (او) د قدرتونو خاوند دے . او الله

فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ فِى الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ

فضیلت ورکړے دے | له تاسو نه ځنو ته | په ځنو باندې | په روزئ کښے | پس نه دی هغه خلق

تاسو له په یو بل باندې په روزئ کښے فضیلت درکړے دے ، نو چا له چه دا فضیلت

فُضِّلُوْا بِرَآدِّیْ رِزْقِهِمْ عَلٰى مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ

کوم تہ چه فضیلت ورکړے شوے دے | واپس کوونکی | د خپلے روزئ | هغه چاته | چه مریان دی د دوی | چه دوی

ورکړے شوے دے هغوی دا سے نه کوی چه د خپلے برخے مال خپلو مریانو له ورکړی ، چه ټول په

فِيْهِ سَوَآءٌ ؕ اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٧١﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ

په هغه کښے | برابر (شی) | پس آیا د نعمت | د الله | دوی انکار کوی | او الله | پیدا کړے

دے حقله برابر شی ، نو آیا دوی د الله تعالیٰ د نعمت نه انکار کوی ؟ او الله تعالیٰ تاسو د پاره

لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ

تاسو د پاره | هم له تاسو نه | ښځے | او پیدا ئے کړل | تاسو د پاره | له ښځو ستاسو نه

هم له تاسو نه ستاسو جوړے پیدا کړے ، او ستاسو له ښځو نه ئے (ستاسو) ځامن او

بَنِيْنَ وَحَفَدَةً وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ اَفَبِالْبَاطِلِ

ځامن | او نمسی | او هغه روزی درکړه تاسو ته | له پاکیزه څیزونو نه | نو آیا په باطل باندې

نمسی پیدا کړل ، او تاسو له ئے د پاکیزه څیزونو نه روزی درکړه ، نو آیا دوی

يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٢﴾ ۙ وَيَعْبُدُوْنَ

دوی ایمان راوړی | او د نعمت | د الله | دوی انکار کوی | او دوی عبادت کوی

باطل څیزونه منی ، او د الله تعالیٰ د نعمتونو نه انکار کوی . او دوی د الله تعالیٰ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ

بغیر | د الله نه | د هغه څه | چه مالک نه وی | دوی د پاره | د رزق | له آسمانونو

نه بغیر د هغه څیزونو عبادت کوی ، چه د آسمانونو او زمکے نه دوی ته د روزئ درکولو هیڅ هم

وَالْاَرْضِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٧٣﴾ فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ

اوله زمكې نه | دَ هيڅ هم | او نهٔ دوى دا كولے شى | پس مهٔ | بيانوئ | الله دَپاره

اختيار نهٔ لرى او نهٔ دَ څهٔ معبودانو دَ وس خبره ده ، نو تاسو الله تعالىٰ ته مثالونه مهٔ

الْاَمْثَالَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٧٤﴾ ضَرَبَ

مثالونه | بيشكه | الله | پوهيږى | او تاسو | نهٔ پوهيږئ | بيان كړو

اوړوئ ، بيشكه الله تعالىٰ (په هر خبره) پوهيږى او تاسو نهٔ پوهيږئ . الله تعالىٰ يو مثال

اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ

الله | يو مثال | چه يو غلام دے | چه دَ بل په اختيار كښے دے | هغه قدرت نهٔ لرى | په هيڅ څيز

بيانوى چه يو غلام دے چه دَ بل په اختيار كښے دے (او) په هيڅ څيز قدرت نهٔ لرى.

وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ

او (بل) هغه څوك | كوم له چه مونږ روزى وركړے دَ | له خپل طرف نه | روزى | ښه | پس هغه | خرڅ كوى

او يو هغه څوك دے كوم له چه مونږ دَ خپل طرف نه ښهٔ رزق وركړے دے ، پس هغه له دے نه په

مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا ۭ هَلْ يَسْتَوٗنَ ۭ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۭ

له هغې نه | په پټه | او په ښكاره | آيا دوى برابر دى ؟ | ټول تعريفونه الله دَپاره دى

پټه او په ښكاره خرڅ كوى ، آيا دا دواړه برابر دى ؟ (هيڅكله نهٔ) ټول تعريفونه الله دَپاره دى

بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ

بلكه | اكثر له دوى نه | نهٔ پوهيږى | او بيان كړو | الله | (بل) مثال | دَ دوؤ سړو

ليكن په دوى كښے اكثر نهٔ پوهيږى . او الله تعالىٰ دَ دوؤ سړو يو بل مثال بيانوى

اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ

يو په دے دواړو كښے | ګونګا دے | قدرت نهٔ لرى | په هيڅ څيز | او هغه | پيټى دے

چه په دوى كښے يو ګونګا دے چه په هيڅ كار قادر نهٔ دے او دَ خپل مالك دَپاره پيټے

عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ۭ هَلْ يَسْتَوِيْ

په خپل مالك باندې | كوم ځاۓ ته | چه دے هغه ليږى | نهٔ راوړى | څهٔ خير | آيا | برابر دے ؟

جوړ شوے دے ، هغه چه كوم خوا هم دے ليږى نو ښيګړه دَ لاسه نهٔ كيږى آيا برابر يدے شى

هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٦﴾ ع ١٠ / ١٦

هغه | او هغه كس | چه حكم كوى | دَ انصاف | او هغه | په لاره دے | سمه

دا او هغه څوك چه دَ انصاف حكم وركوى او خپله په نيغه لاره باندې دے .

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ

او الله دَپاره دى | پټے خبرے | دَ آسمانونو | او زمكے | او نهٔ ده | معامله | دَ قيامت

او دَ آسمانونو او دَ زمكے دَ پټو خبرو علم هم الله تعالىٰ ته دے ، او دَ قيامت راتلل بالكل داسے دى

إِلَّا كَلَمۡحِ الۡبَصَرِ اَوۡ هُوَ اَقۡرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

مګر | په شان د رپ | د سترګې | يا هغه | (د ډې نه هم) زيات نږدې دې | بيشکه الله

لکه د سترګې رپيدل يا د دې نه هم زيات نږدې ـ بيشکه الله تعالىٰ

عَلٰى كُلِّ شَیۡءٍ قَدِيۡرٌ ﴿٧٧﴾ وَاللّٰهُ اَخۡرَجَكُمۡ مِّنۡۢ بُطُوۡنِ

په هر څيز باندې | قادر دې | او الله | راوويستلئ تاسو | له خيټو نه

په هر څيز باندې قدرت لري ، او الله تعالىٰ تاسو ستاسو د ميندو د خيټو نه

اُمَّهٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ شَيۡـًٔا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمۡعَ

د ميندو ستاسو | چه تاسو نه پوهيدئ | په هيڅ څيز | او جوړې کړل | تاسو د پاره | غوږونه

راوويستلئ په داسې حال کښې چه په هيڅ نه پوهيدئ ، او الله تعالىٰ ستاسو غوږونه ، سترګې

وَالۡاَبۡصَارَ وَالۡاَفۡـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿٧٨﴾ اَلَمۡ يَرَوۡا

او سترګې | او زړونه | د پاره د دې چه تاسو | شکر ادا کړئ | آيا نه دي کتلي دوی

او زړونه جوړ کړل چه تاسو شکر ادا کړئ ـ آيا دې خلقو

اِلَى الطَّيۡرِ مُسَخَّرٰتٍ فِیۡ جَوِّ السَّمَآءِ ؕ مَا يُمۡسِكُهُنَّ

مارغانو ته | چه د حکم پابند دي | په فضا کښې | د آسمان | نه راټينګوي دوی څوک

مارغان نه دي ليدلي چه د آسمان په فضا کښې د حکم پابند دي ، دوی صرف الله تعالىٰ

اِلَّا اللّٰهُ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿٧٩﴾

مګر صرف | الله | بيشکه | په دې کښې | نخښې دي | هغو خلقو د پاره | چه ايمان لري

راټينګ کړي دي۔ بيشکه په دې کښې د ايمان راوړونکو خلقو د پاره نخښې دي ـ

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡۢ بُيُوۡتِكُمۡ سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمۡ

او الله | جوړ کړي دي | تاسو د پاره | کورونه ستاسو | د اوسيدو ځايونه | او جوړ کړي يې دي | تاسو د پاره

او الله تعالىٰ تاسو د پاره ستاسو کورونه د سکون ذريعه وګرځول او تاسو له يې د څارويو د

مِّنۡ جُلُوۡدِ الۡاَنۡعَامِ بُيُوۡتًا تَسۡتَخِفُّوۡنَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ

له څرمنو نه | د څارويو | کورونه (خيمې) | چه تاسو سپک مومئ هغه | په ورځ د سفر خپل

څرمنو نه داسې کورونه جوړ کړل چه هغه د سفر په ورځ او د قيام په وخت کښې (په دواړو

وَيَوۡمَ اِقَامَتِكُمۡ ۙ وَمِنۡ اَصۡوَافِهَا وَاَوۡبَارِهَا وَاَشۡعَارِهَاۤ

او په ورځ د ديره کيدو ستاسو | او له وړو د هغې نه | او له پشمونو د هغې نه | او له ويښتو د هغې نه

موقعو) تاسو سپک بيا مومئ او د هغوی د وړی نه او د پشم نه او د ويښتو نه ستاسو د کور سامانونه او

اَثَاثًا وَّمَتَاعًا اِلٰى حِيۡنٍ ﴿٨٠﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمۡ مِّمَّا خَلَقَ

سامانونه (د کور) | او فائده | يو مودې پورې | او الله | جوړ کړل | تاسو د پاره | له هغو (څيزونو) نه | چه هغه پيدا کړل

د فائدې څيزونه جوړ کړل چه تر يو وخته پورې (تر يوې نه فائده واخلئ) او الله تعالىٰ تاسو د پاره د خپلو پيدا کړو څيزونو

ظِلٰلًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ

سوری | او هغه جوړ کړل | تاسو د پاره | د غرونو نه | غارونه | او هغه جوړ کړی دی | تاسو د پاره

سوری جوړ کړل او تاسو له ئے په غرونو کښې د پناه اخستلو ځایونه جوړ کړل او تاسو لپاره ئے داسې جامې جوړې

سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ؕ

جامې | چه هغه وساتی تاسو | له ګرمئ نه | او جامې (زغرې) | چه وساتی تاسو | له جنګ نه

کړې چه د ګرمئ نه مو بچ کوی ، او څه داسې جامې چه (ذریول سرې) په جنګونو کښې ستا سو حفاظت

كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾

دغه شان | هغه پوره کوی | خپل نعمت | په تاسو باندې | د پاره د دې چه تاسو | حکم د مننې

کوی ، الله تعالیٰ دغسې خپل نعمتونه په تاسو پوره کوی ، د پاره د دې چه تاسو فرمان بردار وسیږئ ـــــ .

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٢﴾ يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ

بیا که چرې | دوی مخ واړوی | پس بیشکه | په تا باندې | رسول دی | بنکاره | دوی پیژنی | نعمت

نو که (اوس هم) دوی مخ ګرځوی نو ستا په ذمه خو (نو رڅه نشته تش) ښکاره خبر رسول دی . دوی د الله نعمتونه

اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ ع ١١ / ١٧

د الله | بیا (هم) | دوی انکار کوی له هغې نه | او اکثر په دوی کښې | ناشکره دی | او په کومه ورځ چه | مونږ را پاڅوو

ویره هم پیژنی او بیا (سره د پوهې) ترې نه انکار کوی او په دې کښې اکثر خلق ناشکره دی او په کومه ورځ چه به مونږ

مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د هر یو | اُمت نه | یو ګواه | بیا به | اجازت نه شی ورکولے | هغو خلقو ته | چه کافران وُو

د هر یو امت نه یو ګواه را پاڅوو ، بیا به کافرانو ته (د حجت پیش کولو) اجازت ورکولے نه شی ، او نه به

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ

ونه به له دوی نه | عذرونه قبلولے شی | او هر کله چه | ووینی | هغه خلق | کوم چه ظلم وُکړو | عذاب

د دوی څه عذر قبلولے شی . او هر کله چه هغه خلق کوم چه ظلم کړے وو عذاب ووینی ـــــ

فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٥﴾ وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ

نو کمولے به نه شی | له دوی نه | او نه به | دوی ته | مهلت ورکولے شی | او هر کله چه | ووینی | هغه خلق

بیا به نه د دوی نه (عذاب) کمولے شی او نه به دوی ته مهلت ورکولے شی . او هر کله چه مشرکان خپل

اَشْرَكُوْا شُرَكَآءَهُمْ قَالُوْا رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ

چه مشرکان دی | خپل شریکان | نو وَبه وائی | اے ربه زمونږه! | هم دا دی | زمونږ شریکان | کوم چه به

شریکان (معبودان) ووینی ، نو وبه وائی اے زمونږه ربه ! دا زمونږ هغه معبودان دی کوم چه به

كُنَّا نَدْعُوْا مِنْ دُوْنِكَ ۚ فَاَلْقَوْا اِلَيْهِمُ الْقَوْلَ اِنَّكُمْ

مونږ | بللل | بے له تا نه | بیا دوی به واپس کړی | د دوی طرف ته | دا خبره | چه بیشکه تاسو

مونږ له تا نه سوا بلل ، بیا به هغوی دوی ته دا جواب ورکوی چه بیشکه تاسو

الثلثة

لَكٰذِبُوْنَ ۸۶ وَاَلْقَوْا اِلَى اللّٰهِ يَوْمَئِذِنِ السَّلَمَ وَضَلَّ
دروغژن يئ | او واچوي به كړي دوي | الله طرف ته | په دغه ورځ | فرمانبرداري (عاجزي) | او ورك به شي (هير به شي)
دروغژن يئ ـ او (مشركان به) په دغه ورځ الله سره د صلحې بنا وتړي ، او خپل ټول بهتانونه به

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۸۷ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا
له دوي نه | هغه څه چه | دوي به له خانه تړل | كوم خلق چه | كفر وكړو | او منع ئې كړل (خلق)
ترے نه هير شي ـ چا چه د كفر لاره غوره كړے وه او نور خلق ئې د

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا
د الله د لارے نه | موږ به زيات وركړو دوي ته | عذاب | د پاسه | عذاب | ولے چه دوي به
الله تعالىٰ د لارے نه منع كول ، هغوي له به موږ د يو ے د پاسه بله سزا زياته كړو ، ځكه چه هغوي

يُفْسِدُوْنَ ۸۸ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا
فساد كولو | او په كومه ورځ چه | موږ به راپاڅوو | د هر يو اُمت نه | يو گواه
به (په دنيا كښې) فساد وته كول او هغه ورځ (هم د ياد جوگه ده) چه موږ به د هر يو اُمت نه يو يو گواه هم

عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ
په دوي | هم له دوي نه | او موږ به راولو | تا | گواه | په دے كافرانو
د هغوي د مينځ نه راپاڅت كړو ، او تا به د دے خلقو په مقابله كښې گواه راوړاندې كړو

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى
او موږ نازل كړو | په تا باندې | دا كتاب (قرآن) | بيانولو د پاره | د هر څيز | او هدايت
او موږ په تا باندې دا كتاب (قرآن) نازل كړے دے چه په دے كښې د هر څيز واضح بيان دے او مسلمانانو

وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ۸۹ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ
او رحمت | او زيرے | مسلمانانو د پاره | بيشكه | الله | حكم كوي
د پاره هدايت ، رحمت او زيرے دے ـ الله تعالىٰ يقيناً تاسو ته د انصاف او د

ع ۱۸

بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآئِ ذِى الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى
د انصاف | او د نيكئ | او د امداد وركولو | خپلوانو ته | او منع كوي
نيكئ كولو او خپلوانو ته د (مالي) امداد وركولو حكم كوي ، او د بې حيايئ

عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۹۰
له بې حيايئ نه | او له بدئ | او ظلم نه | هغه نصيحت كوي تاسو ته | چه تاسو | نصيحت حاصل كړئ
د بدو كارونو او د سركشئ نه منع كوي او تاسو ته نصيحت كوي چه تاسو نصيحت حاصل كړئ

وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ
او پوره كړئ | وعده | د الله | هركله چه | تاسو وعده وكړئ | او مه ماتوئ | قسمونه
او د الله تعالىٰ وعده پوره كړئ ، هركله چه تاسو وعده وكړئ او قسمونه د پخولو نه پس

بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ۚ

دَ هغې دَ ټینګولو نه پس | او بیشکه جوړکړے دے تاسو | الله | په خپلو ځانونو باندې | ضامن

مه ماتوئ. حال دا دے چه تاسو په خپل ځان باندې الله تعالیٰ ضامن جوړکړے دے.

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ

بیشکه | الله | پوهیږی | په هغه څه چه تاسو کوئ | او مه کیږئ تاسو | په شان دَ هغه ښځے | چه وسپړدل هغې

بیشکه الله تعالیٰ ستاسو دَ ټولو کارونو نه خبر دے. او تاسو دَ هغه ښځے په شان مه کیږئ چه خپل تارونه

غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا

ریشل شوی پړی خپل | پس دَ مضبوطولو نه | ټوټے ټوټے | تاسو جوړوئ | خپل قسمونه | دَ دخل ورکولو ذریعه

به ئے دَ مضبوطولو نه پس بیا ریزه ریزه کړل، چه (په چل ول) تاسو هم خپل قسمونه دَ فساد کولو ذریعه

بَيْنَكُمْ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ۚ إِنَّمَا

په خپل مینځ کښے | چه شی | یوه ډله | اُوچته (غالب) | له بلے ډلے نه | بیشکه

وګرځوئ، په دے غرض چه یو ټولے دَ بل ټولی نه زیاته فائده اوچته کړی - الله هم دغے

يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ ۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ازمیښت کوی په تاسو | الله | په دے سره | او خامخا به ښکاره کړی | په تاسو | په ورځ | دَ قیامت

ستاسو ازمیښت کوی، او دَ قیامت په ورځ به درته هغه ټول (حقیقت) ښکاره

مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ

هغه خبره | په کومه کښے چه تاسو | اختلاف کولو | او که غوښتلے | الله | نو جوړکړی به ئے وی تاسو

کړی چه تاسو به پکښے اختلاف کولو. او که الله تعالیٰ غوښتلے نو تاسو ټول به ئے

أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي

اُمت | هم یو | لیکن | هغه ګمراه کوی | هغه څوک | چه هغه وغواړی | او هدایت کوی

یو امت کړی وئ. خو هغه چه دَ چا په حقله وغواړی نو هغه ګمراه کړی او دَ چا په حقله چه

مَن يَشَاءُ ۚ وَلَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

هغه چا ته چه | هغه وُغواړی | او تاسو به ضرور تپوس کیږی | دَ هغو (عملونو) په حقله | چه تاسو به کول -

وغواړی نو هدایت ورته کوی او تاسو چه څه کارونه کوئ دَ هغې په حقله به درنه خامخا پوښتنه کیږی.

وَلَا تَتَّخِذُوا أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌ

او تاسو مه جوړوئ | خپل قسمونه | دَ دخل ورکولو ذریعه | په خپل مینځ کښے | چه وُخوئیږی | قدم

او (اے مؤمنانو!) تاسو خپل قسمونه یو بل له دَ دوکے ورکولو ذریعه مه جوړوئ، هسے نه چه دَ چا قدم دَ

بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُوا السُّوءَ بِمَا صَدَدتُّمْ

پس | دَ کلکوالی دَ هغې نه | او تاسو وڅکئ مزه | دَ بدئ (مصیبت) | په سبب دَ هغې | چه منع کول به تاسو

مضبوطیا نه پس (بیا) وخوئیږی او تاسو ته په دے خبره تکلیف ورسی چه خلق به دَ الله تعالیٰ دَ لارے

عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَشْتَرُوا

لاره نه | دَ الله | او تاسو دَپاره | عذاب دے | ډیر لوئے ۔ | او تاسو مه اخلئ

نه منع کول او تاسو له به ډیر لوئے عذاب درکړے شي ۔ او دَ الله تعالیٰ (سره کړے) دعهٔ

بِعَهْدِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ إِنَّمَا عِنْدَ اللَّهِ هُوَ خَيْرٌ

په بدل دَ وعدےٰ دَ الله | قیمت | لږ | بیشکه څهٔ چه | دَ الله سره دي | هغه | ډیر غوره دي

(دَ دنیا) دَ لږے فائدے په عوض مهٔ خرڅوئ ، بیشکه کوم عوض چه الله تعالیٰ سره دي هغه تاسو له ډیر

لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩٥﴾ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا

تاسو دَپاره | که چرے تاسو | پوهیږئ ۔ | هغه څهٔ چه | تاسو سره دي | هغه به فنا کیږي | او څهٔ چه

بهتر دي که تاسو پرے پوهیږئ ۔ څهٔ چه تاسو سره پراته دي هغه به ختم شي او څهٔ چه

عِنْدَ اللَّهِ بَاقٍ ۗ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِينَ صَبَرُوا أَجْرَهُمْ

دَ الله سره دي | هغه (تل) باقي پاتے کیدُنکي دي | او مونږ به ضرور ورکړو | هغوته | کوموچه صبر وکړو | اجر دَ دوی

الله سره پراته دي هغه (تل) باقي (پاتے) دي او خوک چه ثابت قدم پاتے شو هغوئ ته به مونږ خامخا

بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ

دَ ډیرے نه غوره (هغه عملونه) | چه دوي به کول | چا چه عمل وکړو | نیک | سړے وي

اجر ورکړو دَ هغو ښو کارونو په عوض کښے کوم چه هغوئ کول ۔ نیک عمل چه هر څوک کوي که نارینه وي او که

أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ

او که ښځه وي | او هغه | مؤمن وي | نو مونږ به خامخا ژوند ورکړو هغهٔ ته | ژوندُن | پاکیزه

زنانه خو چه هغه مومن وي ، نو مونږ به ورله ضرور (په دنیا کښے) پاکیزه ژوند ورکوو

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾ فَإِذَا

او مونږ به خامخا ورکړو دوئ ته | دَ دوي اجر | دَ دوي دَ ښو عملونو | چه دوي به کول ۔ | بیا هر کله چه

او خامخا به ورله (په آخرت کښے) دَ هغوئ دَ ښو کارونو په عوض کښے اجر ورکوو ۔ نو هر کله چه

قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُ لَيْسَ

ته لوُلے | قرآن | نو پناه غواړه | دَ الله | دَ شیطان | رټلے شوي نه | بیشکه نهٔ دے

ته قرآن لوستل غواړے نو دَ شیطان مردود (دَ شر) نه پناه غواړه ۔ دَ هغهٔ قابو په

لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا

دَ دهٔ | (څهٔ) زور | په هغو خلقو چه | ایمان ئے راوړے | او په خپل رب باندې | توکل کوي | بیشکه چه

داسے خلقو نهٔ چلیږي چه ایمان ئے راوړے وي او په خپل رب توکل کوي ۔ دَ هغهٔ قابو خو

سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِينَ هُمْ بِهِ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾ ع ۱۳ ۱۱ ۱۹

غلبه دَ دهٔ | په هغو خلقو ده چه | دوستي کوي دهٔ سره | او کوم خلق چه | دَ الله سره | شریک مقرروي ۔

بس په هغه چا چلیږي چه هغه خپل دوست گڼړي او (دَ هغهٔ په تعلیم) الله له شریکان پیدا کوي ۔

وَاِذَا بَدَّلْنَآ اٰيَةً مَّكَانَ اٰيَةٍ ۙ وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ

اوهركله چه | بدل كړو موږ | يو آيت | په ځاى | د بل آيت | او الله | ښه پوهه دى | په هغه څه | چه هغه نازلوى

او هر كله چه موږ د يو آيت په بدل كښې بل آيت راولېږو، او الله تعالى په هغې ښه پوهيږى څه چه

قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۱۰۱ قُلْ

نو دوى وائى | بيشكه | چه ته | له ځان نه جوړونكے يې | بلكه اكثر د دوى | نه | پوهيږى | ووايه

رالېږى نو دا خلق وائى چه ته خو بس تش دروغ تړونكے يې . نا ! بلكه په دوى كښې اكثر خلق نه پوهيږى.

نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نازل كړے دے دا | روح القدس (جبرائيل) | ستا د رب له طرف نه | په حق سره | چه مضبوط كړى (په ايمان) | مؤمنان

ته ووايه چه دا جبرائيل امين ستا د رب له طرف نه په حقه نازل كړے دے چه د ايماندارو خلقو ايمان پرے

وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ۱۰۲ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ

او هدايت | او زيرے دے | مسلمانانو د پاره | او بيشكه موږ پوهيږو | چه دوى

مضبوط كړى او د مسلمانانو د پاره هدايت او زيرے دے . او موږ ته ښه معلومه ده چه دوى

يَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ۭ لِسَانُ الَّذِيْ يُلْحِدُوْنَ

وائى | بيشكه چه | ده ته زده كوى | يو انسان | ژبه | د هغه چا | دوى نسبت كوى

وائى چه ده ته خو يو سړے ښود نه كوى (حال دا چه كوم سړى ته دوى دا سې بر ناحقه نسبت

اِلَيْهِ اَعْجَمِيٌّ وَّهٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ۱۰۳ اِنَّ الَّذِيْنَ

طرف د هغه ته | عجمى (غير عربى) دے | او دا | ژبه | عربى ده | واضحه | بيشكه | هغه خلق چه

كوى د هغه ژبه خو عجمى ده او دا قرآن خو په صفا عربى ژبه كښې راغلے دے . څوك چه د

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا يَهْدِيْهِمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ

ايمان نه راوړى | په آيتونو د الله | لاره نه ښائى دوى ته | الله | او دوى د پاره | عذاب دے

الله تعالى په آيتونو ايمان نه راوړى، الله تعالى هغوى په سمه لار نه بوځى ، او هغوى له دردناك

اَلِيْمٌ ۱۰۴ اِنَّمَا يَفْتَرِى الْكَذِبَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

دردناك | بيشكه | جوړوى | دروغ | هغه خلق | چه ايمان نه لرى

عذاب مقرر دے. دروغ تړونكى خو هغه خلق دى چه د الله تعالى په آيتونو باندې

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ۱۰۵ مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ

په آيتونو د الله | او هم دا خلق دى | دروغژن | څوك چه انكار وكړى | د الله

ايمان نه راوړى ، او هم دا خلق پوره دروغژن دى . څوك چه د ايمان راوړو نه پس بيا

مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ

د خپل ايمان راوړو نه پس | سوا د هغه چا نه | چه مجبور كړے شوى وى | او د ده زړه | مطمئن وى

د الله تعالى نه انكار وكړى سوا د هغه چا نه كوم چه مجبوره كړے شى ، او د هغه زړه په ايمان باندې

بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ
په ایمان | لیکن | څوک چه | پرانیزي | په کفر سره | (خپله) سینه | نو په هغوی باندې د
مطمئن وي (نو دا ے پند لا مستثنیٰ دے) خو چا چه خپله سینه کفر ته پرانستله ، نو په هغوی به

غَضَبٌ مِّنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ
غصه | د الله | او دوی دپاره دے | عذاب | ډیر لوئے | دا ځکه چه دوی
د الله تعالیٰ غضب وي ، او هغوی له لوئے عذاب مقرر دے . دا ځکه چه دوی

اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي
خوښ کړو | ژوند د دنیا | په آخرت | او دا چه الله | لاره نه ښائی
د آخرت په مقابله کښې د دنیا ژوند خوښ کړو ، او دا چه الله تعالیٰ کافرانو خلقو ته

الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ
قوم | د کافرانو ته | هم دا خلق دی چه | مُهر وهلے دے | الله
سمه لاره نه ښائی . هم دا هغه خلق دی د کومو په زړونو ، غوږونو

عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ
د دوی په زړونو | او د دوی په غوږونو | او د دوی په سترګو | او هم دا خلق دی
او سترګو باندې چه الله تعالیٰ مهر لګولے دے . او هم دا خلق (د خپل

الْغَافِلُونَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿١٠٩﴾
(د دین نه) بے خبره | هیڅ شک نشته | چه دوی | په آخرت کښې | نقصان موندونکی دی
انجام نه) بے خبره دی ، دا لازمی خبره ده چه په آخرت کښې به دا خلق په زیان کښې پراته وی .

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِن بَعْدِ مَا فُتِنُوا
بیا | بیشکه ستا رب | هغو خلقو دپاره | چه هجرت ئے وکړو | پس له دے نه چه | په مصیبتونو کښې واچولے شو
د دوی برعکس ستا پروردګار د هغه چا په حقله چه په سختو سختو آزمینښتونو کښې اچولے شوی

ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ
بیا | هغوی جهاد وکړو | او صبر ئے وکړو | بیشکه | ستا رب | پس له هغے نه | بخښونکے
وو او د هغے نه پس ئے هجرت وکړو او (په تکلیفونو باندې ئے) د صبر نه کار واخستو ، نو ستا رب د دے کارونو نه

ع ١٤ / ٢٠

رَّحِيمٌ ﴿١١٠﴾ يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَن نَّفْسِهَا
مهربان دے | په هغه ورځ | چه را به شي | هر یو کس | چه جګړه به کوی | د خپل طرف نه
پس بخښونکے مهربان دے . په کومه ورځ چه به هر څوک د خپل طرف نه راځي او جګړه به کوی

وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١١١﴾ وَضَرَبَ
او پوره به ورکړے شي | هر نفس ته | څه چه ده کړی وی | او په دوی به ظلم نه شي کولے | او بیان کړو
او هر چا ته به د ده د عملونو پوره پوره بدله ورکولے شي او په دوی به ظلم نه شي کولے ، او الله تعالیٰ

اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّأْتِيْهَا رِزْقُهَا

الله | مثال | دَ یو کلی | چه وو هغه په امن ارام نیونکے | راتلله به هغوی ته | روزی دَ هغوی

دَ یو کلی دَ خلقو مثال ورکوی چه هغوی په امن او اطمینان سره وسیدل ، روزی به ورته فراخه

رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ

فراخه | له هر ځائے نه | بیا ناشکری وکړه دغه کلی | دَ نعمتونو دَ الله | پس وڅکولو هغوی ته الله

دَ هر ے غاړے نه راتلله ، خو هغوی دَ الله تعالیٰ دَ نعمتونو ناشکری وکړه ، نو الله تعالیٰ

لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

جامه | دَ لوږے | او دَ ویرے | په سبب دَ هغه څه چه | دوی به کول ۔

دَ هغوی دَ عملونو په وجه په هغوی باندې لوږے قحط او ویره راوستله

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ

او بیشکه راغے دوی ته | یو پیغمبر | له دوی نه | پس دوی دروغژن وګڼلو هغه | نو ونیول دوی لره

او بیشکه هغوی ته هم له هغوی نه یو پیغمبر راغے نو هغوی ئے دروغژن وګڼلو نو هغوی عذاب

الْعَذَابُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا

عذاب | او دوی ظالمان وو | پس خورئ | له هغه څه نه | چه روزی درکړے ده تاسو ته الله | حلاله

ونیول او هغوی ظالمان وو ۔ پس څه چه الله تعالیٰ تاسو له درکړی دی ، له هغے نه حلال

طَيِّبًا ۖ وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۱۴﴾

پاکیزه | او شکر کوئ | دَ نعمت دَ الله | که چرے تاسو هم دَ هغهٔ | عبادت کوئ

او پاکیزه څیزونه خورئ ، او دَ الله تعالیٰ په نعمتونو شکر وباسئ که تاسو (په رښتیا) دَ هغهٔ عبادت کوئ

اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ

بیشکه | هغهٔ حرام کړے ده | په تاسو | مرداره | او وینه | او غوښه | دَ خنزیر

هغهٔ خو په تاسو باندې مرداره او وینه او دَ خنزیر غوښه او کوم څیز چه دَ الله تعالیٰ نه

وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ

او هغه څهٔ | چه پرے نامه یاد شوی وی دَ غیر الله | بیا څوک چه مجبور شی | نافرمانه نهٔ وی | او نهٔ دَ حد نه تیریدونکے وی

سوا دَ بل چا په نامه مشهور شوے وی حرام کړی دی ، بیا څوک چه مجبور شی او نافرمانه او دَ حد نه تیریدونکے نه

فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ

نو بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | او تاسو مهٔ وایئ | هغه څیز ته | چه بیانوی

وی نو بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربانه دے ۔ او تاسو مهٔ وایئ هغه چه ستاسو ژبے دروغ

اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ

ژبے ستاسو | په دروغه | چه دا حلال دی | او دا حرام دی | لپاره دَ دے چه تاسو وتړئ | په الله

بیانوی ، چه دا حلال دی او دا حرام دی ، نتیجه ئے دا شی چه تاسو په الله باندې

الْكَذِبَ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿١١٦﴾

دروغ | بیشکه | کوم خلق چه | تړی | په الله باندې | دروغ | هغوی نا کامیا بیږی

دروغ وتړی . بیشکه څوک چه په الله تعالیٰ دَ دروغو تهمتونه تړی هغوی هیڅکله نجات نهٔ بیا موی

مَتَاعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا

(داخو) فائده ده | لږ شان | او دوی دَ پاره | عذاب دے | دردناک | او په هغو باندې | چه یهودیان دی

(دَ دنیا) لږ شان عیش دے او (بیا) هغوی له دردناک عذاب مقرر دے . او څوک چه دَ یهودو په دین دی

حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِن قَبْلُ ۖ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ

حرام کړل مونږ | هغه څه چه | مونږ بیان کړی دی | په تا | له دے نه وړاندې | او ظلم نهٔ دے کړے مونږ په دوی

په هغوی باندې مونږ هغه څیزونه حرام کړی وو کوم چه مونږ تا ته مخکښې بیان کړی دی . او مونږ په هغوی باندې ظلم

وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ

او لیکن دوی | په خپلو ځانونو | ظلم کولو | بیا | بیشکه ستا رب | هغو خلقو دَ پاره

زیاتے نهٔ دے کړے ، بلکه هغوی پخپله په ځان زیاتے کولو . بیا بیشکه ستا رب هغو خلقو دَ پاره کوم چه

عَمِلُوا السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ

چه عملونه ئے وکړل | خراب | په ناپوهئ سره | بیا توبه ئے وکړی | پس له دے نه

په ناپوهئ سره بدٔ عملونه وکړل بیا له هغے نه پس هغوی توبه وکړی او خپل

وَأَصْلَحُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾

او اصلاح ئے وکړی | بیشکه ستا رب | پس له هغے نه | بخښونکے | مهربان دے

ځان سم کړی نو پس له دے نه ستا رب یقیناً بخښونکے مهربان دے

ع ١٥ ٩ ٢١

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ

بیشکه | ابراهیم | وو | لوئے پیشوا | فرمانبردار | دَ الله | یو طرفه (حق ته مائل) | او نهٔ وو هغه

بیشکه ابراهیم (دَ خلقو لوئے) پیشوا دَ الله تعالیٰ فرمان منونکے او صرف حق طرف ته مائل وو . او هغه له

مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ۚ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ

له مشرکانو نه | شکر کونکے وو | دَ هغهٔ دَ نعمتونو | هغهٔ دے غوره کړے وو | او دهٔ ته ئے هدایت کړے

مشرکانو نه نهٔ وو ، دَ الله تعالیٰ دَ نعمتونو شکرګزار وو (الله تعالیٰ) دے غوره کړے وو او په سمه

إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُ

سمے لارے طرف ته | او ورکړه مونږ دهٔ ته | په دُنیا کښے | ښیګړه | او بیشکه دے به

لار ئے روان کړے وو . او مونږ ورته په دُنیا کښے هم ښهٔ حالت ورکړے وو او په آخرت

فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ

په آخرت کښے هم | له نیکو بندګانو نه وی | بیا مونږ وحی وکړه | ستا طرف ته | چه پیروی وکړه | دَ دین

کښے هُو په صالحانو کښے شمیر دے . بیا مونږ تا ته دا وحی وکړه چه دَ ابراهیم په لاره

اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۭ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِنَّمَا جُعِلَ

دَ ابراهيم | چه يو طرفه ؤ | او نهٔ وو | له مشرکانو نه | بيشکه مقرر کړے شوے وو

دوان او سه چه يو طرفه ؤ او په مشرکانو کښے شامل نهٔ وو . (دَ) سبت (احترام) خو په هغه

السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۭ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ

(احترام) دَ ورځے دَ خالى | په هغو خلقو باندې | کومو چه اختلاف وکړو | په هغې کښے | او بيشکه | ستا رب | به فيصله وکړى

چا مقرر شوے وو چه په دے حقله ئے اختلاف کړے وو او بيشکه ستا رب به دَ قيامت په ورځ

بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اُدْعُ

دَ دوى په مينځ کښے | په ورځ دَ قيامت | په هغه څه کښے | چه دوى به په هغې کښے اختلاف کولو | دعوت ورکړه (خلقو)

دَ دوى په مينځ کښے فيصله وکړى په کومو خبرو کښے چه دوئ اختلاف کولو . ته دَ خپل رب

اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ

دَ خپل رب دَ لارے طرف ته | په حکمت | او په نصيحت | ښهٔ سره | او بحث وکړه دوى سره

دَ لارے طرف ته په حکمت او په ښهٔ نصيحت سره بلنه کوه ، او دوئ سره په

بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ

په داسے طريقه | چه ښه وى | بيشکه | ستا رب | هغه ښهٔ پوهيږى | په هغه چا چه | گمراه شو

بهتره طريقه بحث کوه ، بيشکه ستا رب ته ښهٔ معلومه ده چه څوک دَ هغهٔ دَ لارے نه

عَنْ سَبِيْلِهٖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿١٢٥﴾ وَاِنْ عَاقَبْتُمْ

دَ هغهٔ دَ لارے نه | او هغه ښهٔ پوهيږى | په سمه لار موندونکو | او کهٔ چرے | تاسو بدله اخلئ

گمراه شوے دے ؟ او هغه دَ هدايت خاوندان هم ښهٔ پيژنى . او کهٔ تاسو بدله اخستل

فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ۭ وَلَىِٕنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ

نو تاسو بدله واخلئ | په مثل دَ هغې | چه تاسو سره معامله شوے ده په هغې | او کهٔ چرے تاسو صبر وکړئ | نو خامخا دا

غواړئ نو بس دومره قدر درد ورته ورسوئ څومره چه ئے تاسو ته رسولى وى او کهٔ صبر وکړئ نو دا کار دَ

خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ﴿١٢٦﴾ وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ

ښهٔ دے | صبر کوونکو دَ پاره | او ته صبر کوه | او نهٔ دے صبر ستا | مگر دَ الله په مدد دَ

صبر کوونکو دَ پاره ډير بهتر دے، او (اے پيغمبره !) ته صبر کوه او ستا صبر خو بس دَ الله تعالىٰ په توفيق

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٧﴾

او ته مهٔ غمژن کيږه | په دوى باندې | او نهٔ شے | زړهٔ تنګے | له هغه څهٔ نه | چه دوى ئے تدبير کوى

دے او دَ دوئ په حال غم مهٔ کوه ، او دَ دوئ په فريبونو خپل زړهٔ مهٔ تنګوه

اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿١٢٨﴾ ع ١٦ ‏ ٩ ‏ ٢٢

بيشکه الله | سره دے | دَ هغو خلقو | چه پرهيزګارى دى | او هغو خلقو (سره دے) | چه نيکى کوونکى دى .

بيشکه الله تعالىٰ دَ هغه چا سره مل دے څوک چه پرهيزګاروى او څوک چه ښهٔ سلوک ساتى .

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانہ ترجمہ

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

سُوْرَةُ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّاِثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورۃ بنی اسرآءیل په مکه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دې کښې ۱۱۱ آیتونه او ۱۲ رکوع گانې

شروع کوم د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے.

سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

پاک دے | هغه ذات چه | بوتلو | خپل بنده | د شپې | له مسجد | حرام نه

(الله) هغه پاک ذات دے چه خپل بنده (محمد صلی الله علیه وسلم) ئې شپه په شپه د مسجد حرام (خانه کعبه) نه

اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِيْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ

طرف د مسجد اقصیٰ ته | هغه کوم له چه | برکت ورکړے مونږ | چارچاپېره د هغې | چه وښایو مونږ ده ته

مسجد اقصیٰ (بیت المقدس) ته بوتلو چه د هغې گېرچاپېره (علاقې) له مونږ برکتونه ورکړی دی چه مونږ ده ته خپلې

مِنْ اٰيٰتِنَا ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝۱ وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ

خپلې نخښې | بیشکه هغه | آورېدونکے | لیدونکے دے | او ورکړه مونږ | موسیٰ ته | کتاب | او مونږ جوړ کړو هغه

نخښې وښایو، بیشکه الله تعالیٰ آورېدونکے او لیدونکے دے او مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړو او (دا کتاب) مونږ

هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ۝۲ۭ ذُرِّيَّةَ مَنْ

هدایت | بنی اسرائیلو د پاره | چه تاسو مه نیسئ | بې له ما نه | څوک کارساز | ای اولاده! د هغه چا

بنی اسرائیلو د پاره د هدایت ذریعه گرځولے وه چه (خبردار) زما نه بغیر بل هیڅوک خپل کارساز و نه گرځوئ اے د هغه چا اولاده

حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ۝۳ وَقَضَيْنَآ

مونږ سواره کړل | د نوحؑ سره | بیشکه هغه وو | بنده | شکرگزار | او لیکلی وو مونږ

چه مونږ د نوحؑ سره (په کشتۍ کښې) سواره کړی وئ، بیشکه نوحؑ یو شکرگزار بنده وو. او مونږ بنی اسرائیلو ته په

اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ فِي الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ

بنی اسرائیلو د پاره | په کتاب کښې | چه تاسو به فساد کوئ | په زمکه کښې | دوه ځله

خپل کتاب کښې دا خبره په گوته کړے وه چه تاسو به په ملک کښې دوه ځله فساد کوئ

وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۝۴ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا

او تاسو به خامخا سرکشي کوئ | سرکشي لويه | پس هرکله چه راشي | (وخت د) وعدے | په دواړو کښې د وړومبي | نو راولېږو به مونږ

او ډېره سرکشي به کوئ، پس هرکله چه په دواړو کښې د وړومبي وعدے (د پوره کېدو) وخت راشي

عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ ۭ

په تاسو باندې | خپل بندگان | جنگیالي | سخت | پس دوی به ورننوځي | په مینځ د کورونو کښې

نو مونږ به په تاسو باندې خپل داسے بندیان وگومارل چه هغوی ډېر جنگیالي وو، نو ستاسو په کورونو ورننوتل او دا یوه

وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ۝۵ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَاَمْدَدْنٰكُمْ

او دا یوه وعده وه | چه پوره کېدونکې وه | بیا مونږ درکړله | تاسو ته | غلبه | په دوی باندې | او مونږ تاسو ته مدد درکړو

داسے وعده وه چه خامخا به پوره کېدله. بیا مونږ (دوباره) تاسو له په هغوی باندې غلبه درکړله او په مالونو او په

بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَجَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا ﴿٦﴾ اِنْ اَحْسَنْتُمْ اَحْسَنْتُمْ

په مالونو | او ځامنو سره | او مونږ جوړ کړئ تاسو | زیات | لښکر | که چیرې نیکي وکړه تاسو | نو نیکي مو وکړه

غاصبو مو ستاسو امداد وکړو او تاسو له مو یو لوئے ټولے جوړ کړو . که تاسو ښه کړئ نو خپل ځان د پاره

لِاَنْفُسِكُمْ ۟ وَاِنْ اَسَاْتُمْ فَلَهَا ؕ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ

د خپلو ځانونو د پاره | او که چیرې تاسو بدي وکړه | نو خپلو ځانونو د پاره | بیا هر کله چه راغے | (وخت) د دویمې وعدې

ښه کوئ ، او که بد کوئ نو ځان سره به بد کوئ ، نو بیا چه د دویمې ځل وخت راغے

لِيَسُوْٓءٗا وُجُوْهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوْهُ اَوَّلَ مَرَّةٍ

چه دوی وران کړي | مخونه ستاسو | او چه دوی داخل شي | جومات ته | څنګه چه دوی داخل شوي وو | په اول ځل

چه هغه (دښمن) ستاسو مخونه وران کړي او هغوي په مسجد (اقصی) کښې ورننوځي لکه چه هغوي په اول ځل ورننوتي

وَّلِيُتَبِّرُوْا مَا عَلَوْا تَتْبِيْرًا ﴿٧﴾ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يَّرْحَمَكُمْ ۚ

او چه تس نس کړي | کوم ځائے چه غلبه بیا مومي | په پوره تس نس کولو سره | امید دے چه | ستاسو رب | هغه به رحم وکړي په تاسو

وو او دا چه کوم ځائے غلبه بیا موي هغه پوره برباد کړي . امید دے چه ستاسو رب په تاسو رحم وکړي .

وَاِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ

او که چیرې | تاسو را واپس کیږئ | نو مونږ به هم را واپس شو | او جوړ کړے مونږ | دوزخ | کافرانو د پاره

او که تاسو بیا هغه څه وکړل نو مونږ به هم هغه کوو او مونږ دوزخ کافرانو د پاره قید خانه جوړه

وقف لازم

حَصِيْرًا ﴿٨﴾ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ اَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ

قید خانه | بیشکه دا | قرآن | لاره ښائي | هغه کومه چه | ډیر لوره نیغه ده | او زیرے ورکوي

کړے ده . بیشکه دا قرآن هغه لاره ښائي کومه چه بالکل نیغه ده ، او کوم ایماندار

الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا كَبِيْرًا ﴿٩﴾ۙ

مؤمنانو ته | هغه کوم چه | عمل کوي | ښه | چه بیشکه دوی له | اجر دے | لوئے

چه نیک کارونه کوي هغوي ته زیرے ورکوي چه د هغوي د پاره ډیر لوئے اجر مقرر دے .

وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٠﴾ۧ

او دا چه کوم خلق | ایمان نه راوړي | په آخرت | مونږ تیار کړے دے | هغوي د پاره | عذاب | دردناک

او دا چه کوم خلق په آخرت باندې ایمان نه راوړي مونږ هغوي د پاره دردناک عذاب تیار کړے دے

ع ١

وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ

او دعا کوي | انسان | د بدۍ | په شان د دعا د ده | د نیکۍ | او دے | انسان

او هم انسان د عذاب د پاره داسې دعا غواړي لکه چه هغه د نیکۍ دعا غواړي ، او انسان ډیر تلوار کوونکے

عَجُوْلًا ﴿١١﴾ وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ

تلوار کوونکے | او مونږ جوړې کړې دي | شپه | او ورځ | دوه نخښې | بې نوره کړه مونږ | نخښه | د شپې

دے . او مونږ د شپې او د ورځې ته دوه نخښې جوړې کړې دي نو د شپې هغه نخښه مو تته کړے

وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ

او جوړه کړه موږ | نخښه د ورځې | روښانه | چې تاسو ولټوئ | فضل (روزي) | د رب خپل

ده او د ورځې نخښه مو روښانه کړې ده چې تاسو پکښې د خپل رب فضل لټولے شئ

وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ؕ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ

او چې تاسو معلوم کړئ | شمېر | د کلونو | او حساب | او هر څیز | موږ بیان کړو

او چې د کلونو شمېر او (نور) حساب درته معلومېږي ، او هر څیز موږ په تفصیل سره بیان

تَفْصِيْلًا ﴿۱۲﴾ وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ ؕ وَنُخْرِجُ

په تفصیل سره | او هر انسان | زوړند کړو موږ | د ده قسمت (عملنامه) | د ده په غاړه کښې | او وباسو موږ به

کړے دے ۔ او موږ د هر چا عملنامه د هغه د غاړے امیل کړے دے ، او د قیامت په

لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ﴿۱۳﴾ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ

ده د پاره | په ورځ د قیامت | یو کتاب | چې وبه مومي هغه | سپړد لے | ولوله | خپل کتاب (عملنامه)

ورځ به ورته یوه عملنامه مخامخ کېږدو چې سپړدلے به یې ووینی (او ورته وبه ویلے شي) خپله عملنامه ولوله

كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿۱۴﴾ؕ مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا

کافي یې | ته پخپله | نن ورځ | د خپل ځان خلاف | حساب اخستونکے | چا چې | لاره بیا مونده | نو یقیناً

نن ته د خپلې عملنامې د حساب د پاره په خپله کافي یې ۔ څوک چې په سمه لار ځي نو یقیناً د

يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ؕ وَلَا تَزِرُ

هغه لاره بیا مونده | خپل ځان د پاره | او څوک چې ګمراه شو | نو بیشکه چې ګمراه شو | خپل ځان د پاره | او نه وچتوي پېټے

خپلې فائدے د پاره ځي ، او څوک چې بے لارې شي نو هغه د خپل نقصان د پاره بے لارې شي او هیڅوک به د

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾

څوک پېټے وچتونکے | پېټے د بل | او نه یو موږ | عذاب ورکوونکي | ترهغې چې | موږ ولېږو | څوک پیغمبر

بل پېټے نه وچتوي ، او موږ عذاب نه ورکوو ترڅو چې یو پیغمبر ونه لېږو

وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا

او هر کله چې | موږ وغواړو | چې موږ هلاک کړو | یو کلے | نو موږ حکم وکړو | د هغې مالدارو خلقو ته | نو هغوي نافرماني وکړه په هغې کې

او هر کله چې موږ اراده وکړو چې یو کلے به هلاک کړو نو د هغه ځاے مالدارو خلقو ته حکم وکړو نو (د حکم نه منلو په ځاے) هغوي

فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿۱۶﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا

بیا ثابته شوه په هغوي باندې | خبره (د عذاب) | پس هلاک کړل موږ هغوي | په پوره شان هلاک | او څومره | موږ هلاک کړل

پکښې وراني شروع کړې نو د عذاب خبره په پورے ولګی نو موږ هغه تباه او برباد کړو او موږ څومره (ډېر) امتونه

مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ بَعْدِ نُوْحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ

کلي | د نوح ؑ نه پس | او کافي دے | ستا رب | په ګناهونو | د بندګانو خپلو

د نوح علیه السلام نه پس هلاک کړي دي ، او دا کافي ده چې ستا رب د خپلو بندګانو د ګناهونو

خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ⑰ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا

خبردار | بینا | څوک چه | غواړي | په تلونکې (په دنیا کښې) | موږ به ژر ورکړو | هغه ته | په دې (دنیا) کښې

خبردې او هرڅهٔ وینې کوونکی. څوک چه په تلونکې د دنیا (ګټو) خواهش لري موږ به ورله په تلونکې په دنیا کښې

مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا

څومره چه موږ وغواړو | چا د پاره | چه موږ وغواړو | بیا | موږ مقرر کړے دے | هغهٔ د پاره | دوزخ | هغه به داخلیږي په دې کښې

ورکړو څومره چه وغواړو او د چا په حقله چه وغواړو، خو بیا به ورله دوزخ تیار کړو چه په هغې کښې بد حاله

مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ⑱ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا

بد حاله | شړلے شوے | او څوک چه غواړي | آخرت | او کوشش وکړو هغهٔ | د دې د پاره | د دې مناسب کوشش

او بد چاله ورننوځي. او څوک چه د آخرت خواهش ساتي او هغې له د هغې په مناسب کوشش کوي

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ⑲ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ

او دے مؤمن وي | پس هم داخلق دي | چه کوشش د دوی | قبول شو | هر یو له | موږ ورکوو | دوی ته هم

او مؤمن هم وي، نو د داسے خلقو کوشش به مقبول وي. موږ د هر چا امداد کوو د دوئ هم

وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ؕ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ⑳

او دوی ته هم | له بخشش | د رب ستا نه | او نهٔ دے | بخشش | ستا د رب | منع شوے

او د هغوئ هم داستا د رب ورکړه ده، او ستا د رب ورکړه په چا بنده نهٔ ده.

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ

وګوره | چه څنګه | موږ فضیلت ورکړو | ځنو له | په ځنو باندې | او خامخا آخرت دے | لوئ درجو والا

ته وګوره! چه موږ دوئ له څنګه په یو بل باندې (په دنیا کښې) فضیلت ورکړے دے او البته د آخرت درجے د لوئ لوئے

وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ㉑ لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا

او ډیر لوئے | په فضیلت کښې | مهٔ مقرروه | د الله سره | څوک بل معبود | پس ته به کښینې | بد حاله

او په فضیلت کښے د لوئ زیاتے دی. الله سره څوک بل معبود مهٔ جوړوه، کنې بد حاله بے مدد ګاره به

مَّخْذُوْلًا ۟ ㉒ وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ

بے مدد ګاره | او حکم کړے دے | ستا رب | چه عبادت مهٔ کوئ | مګر صرف د هغهٔ | او مور پلار سره

ناست پاتے شے. او ستا رب دا حکم کړے دے چه بے د هغهٔ نه د بل هیچا عبادت مهٔ کوئ او مور پلار سره

اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا

احسان کوئ | که چرے دوی ورسیږي | تا سره | بوډاوالي ته | یو له دوی نه | یا دوی دواړه

ښهٔ سلوک ساتئ، که په دوئ کښے یو یا هغه دواړه ستا په وړاندې بوډاوالي ته ورسیږي

فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا

پس مهٔ وایه | دوی ته | اُف (هم) | او رټنه مهٔ کوه دوی ته | او وایه | دوی ته | خبره

نو تاسو دوئ ته اُف قدرله هم ونهٔ کړئ او دوی مهٔ رټئ او دوی سره په نرمئ خبره

ع ۲

كَرِيمًا ﴿٢٣﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ

او ووایه | له مهربانئ نه | دَ عاجزئ | وزر | دوی دَ پاره | او ښکته کړه | ښه

او داسې وایه چه وسیږه ، دَ عاجزئ نه ټیټ سره محبت سره په مینه په وړاندې دَ هغوئ او کوه .

رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا ﴿٢٤﴾ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ

ښهٔ پوهیږی | ستاسو رب | په وړوکوالی کښې | چه دوی زهٔ پالَلے یم | لکه څنګه | په دوی دواړو رحم وکړه | اے ربه زما!

خو چه ستاسو په ، دکلا کړے پالَنه زما کښې وړوکوالی په دوی چه لکه وکړه رحم باندې دواړو دوی په ! ربه زما اے

بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ ۚ إِن تَكُونُوا صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ

رجوع کوونکو دَ پاره | دے | نو بیشکه هغه | نیکان | که چرے یئ تاسو | چه ستاسو په زړونو کښې دی | په هغه

دَ پاره خلقو ایسیدونکو توبې دَ هغه نو ، یئ نیکان تاسو کهٔ . دی معلوم ښهٔ ته رب ستاسو دی کښې زړونو

غَفُورًا ﴿٢٥﴾ وَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ

او مسافر ته | او مسکین | حق دَ هغهٔ | رشته دار ته | او ورکړه | بخښونکے.

ورکړه حق هغوئ دَ ته مسافر او محتاج ، دار رشته او . دے بخښونکے

وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ

دَ شیطانانو | ورونړه | دی | بیشکه فضول خرچ کوونکی | په فضول خرچئ کولو سره | او فضول خرچی مهٔ کوه

دی ورونړه شیطانانو دَ خلق خرڅه فضول بیشکه الوزوه مهٔ ځایه بے مال او

وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا ﴿٢٧﴾ وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ

له دوی نه | او کهٔ چرے ته مخ واړوے | ناشکره | دَ خپل رب | شیطان | او دے

دَپاره کړے څنګ نه دوی له تهٔ چرے کهٔ او دے ناشکره زیات ډیر رب خپل دَ شیطان او

ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا

خبره | هغوئ ته | نو وایه | چه ته اُمید کوے دَ هغے | دَ خپل رب | دَ رحمت | په انتظار کښې

جواب سره نرمئ په ته هغوئ نو دی وننه اُمید ته ورستا چه راشی فراخی هغه ته طرف له رب ستا دَ چه دے دَ

مَّيْسُورًا ﴿٢٨﴾ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا

او مهٔ خوروه هغه | خپل څټ پورے | تړلے | خپل لاس | او مهٔ ساته | په نرمئ

پرانستی بالکل نهٔ او ، (کړه مهٔ جوړ شوم یعنی) ساته مهٔ تړلے پورے څټ خپل لاس خپل او . کوه ورکوه

كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ

فراخه کوی | بیشکه ستا رب | تش لاسے | ملامته | پس ته به کښینې | په پوره خورولو سره

غواړی چه پاره دَ چا رب ستا بیشکه ، شے پاتے ناست به لاس تور تش ملامته کنې ، چلوه

الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ

په خپلو بندګانو | دے | بیشکه هغه | او تنګوی | چا دَ پاره چه غواړی | روزی

بنده نه بندګانو خپلو له هغه یقیناً تنګوی (غواړی چه پاره دَ چا) او کوی فراخه رزق

خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا۟ ﴿۳۰﴾ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ۭ

خبردار | دانا | او مهٔ وژنئ تاسو | اولاد خپل | له ویرے | د تنګدستۍ نه

خبردے او هر څهٔ وینکوری ۰ او خپل اولاد د غریبۍ د ویرے نه مهٔ وژنئ ،

نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَاِيَّاكُمْ ۭ اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْاً كَبِيْرًا ﴿۳۱﴾

موږ | روزی ورکوؤ دوی ته | او تاسو ته (هم) | بیشکه د دوی وژل | دهٔ | ګناه | لویه

موږ هغوئ له هم روزی ورکوو او تاسو له هم ۰ بیشکه د دوئ وژل ډیر غټ جرم دے

وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ۭ وَسَاۗءَ سَبِيْلًا ﴿۳۲﴾

او مهٔ نژدے کیږئ | زنا ته | بیشکه دا | دهٔ | بے حیائی | او بده | لار دهٔ

او د زنا خوا ته هم مهٔ ورنژدے کیږئ داغته بے شرمی دهٔ او ډیره خرابه لار دهٔ .

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ

او مهٔ وژنئ | (هغه) نفس | کوم چه حرام کړے دے | الله | مګر | په حق سره

او هغه نفس مهٔ وژنئ د کوم (وژل) چه الله تعالیٰ حرام کړی دی مګر په جائزه

وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا

او څوک چه ووژلے شو | په ظلم سره | پس موږ ورکړے دے | د دهٔ وارث ته | قوت (اختیار)

او څوک چه برناحقه ووژلے شی نو موږ د هغهٔ وارث ته اختیار (د قصاص) ورکړے دے

فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ مَنْصُوْرًا ﴿۳۳﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا

پس زیاتے دِ نهٔ کوی | په وژلو کښے | بیشکه د دهٔ | به مدد کولے شی | او مهٔ نژدے کیږئ

نو دهٔ له پکار دی چه (د قاتل) په وژلو کښے زیاتے نهٔ کوی ولے چه دهٔ ته مدد ورکړے شوے دے . او د یتیم مال ته

مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِىَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ

مال | د یتیم ته | مګر په هغه طریقه | چه هغه | د غوره بنه وی | تر دے چه | هغه ورسیږی

نژدے هم مهٔ ځئ مګر صرف په هغه طریقه چه د دهٔ په حق کښے غوره وی تر دے چه هغه پوخ عمر

اَشُدَّهٗ ۠ وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْــُٔوْلًا ﴿۳۴﴾ وَاَوْفُوا

خپلے ځوانئ ته | او پوره کوئ | وعده | بیشکه | د وعدے به | تپوس کولے شی | او پوره ورکوئ

ته ورسیږی او د وعدے پابندی ساتئ بیشکه د وعدے په حقله به تپوس پوښتنه کیږی ۰ او چه (څهٔ)

الْكَيْلَ اِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ

پیمانه | هر کله چه تاسو پیمانه کوئ | او تول کوئ | په تله | سمه | دا | بهتره

پیمانه کوئ نو پوره پوره ئے پیمانه کوئ او (چه تول کوئ نو) په سمه برابره تله باندِ تول کوئ دا ډیر غوره دے

وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿۳۵﴾ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۭ

او ډیره بنهٔ ده | په لحاظ د انجام | او مهٔ ځه | هغه څیز پسے چه نشته د | تا ته | د هغے څهٔ | علم

او د انجام په لحاظ سره د ډیرو نه بنهٔ دے. او په هغه خبرے پسے مهٔ ځه د کومے چه تا ته (پوره) علم نه وی

اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ

بیشکه | غوږ | او سترګه | او زړه | دا هر یو ددوی به | له ده نه

بیشکه د غوږونو، سترګو او د زړه د دې ټولو څیزونو په حقله به د هر چا نه پوښتنه

مَسْـُٔوْلًا ﴿۳۶﴾ وَلَا تَمْشِ فِی الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ

پوښتن کیږي | او تلل مه کوه | په زمکه کښې | په غرور سره | بیشکه ته | هیڅ کله نه شې شلولې

کیږي. او د زمکه په مخ ایخ نیغ مه ګرځه ته خو نه زمکه شلولې

الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿۳۷﴾ كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَیِّئُهٗ

زمکه | او هیڅ کله نه شې رسیدلې | غرونو ته | په اوږدوالي کښې | دا ټول | خراب کارونه

شې او نه په اوږدوالي کښې غرونو ته رسیدلې شې. دا ټول خراب کارونه ستا د رب په

عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ﴿۳۸﴾ ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰٓی اِلَیْكَ رَبُّكَ

ستا د رب په نزد | ناخوښه دي | دا (په هغه خبرو) کښې دي | چه وحي رالیږلې ده | ستا طرف ته | ستا رب

نزد بالکل ناخوښه دي. دا (ټولې) خبرې په هغه حکمت کښې شمیرږي چه ستا پروردګار

مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰی

له حکمت نه | او مه جوړوه | د الله سره | څوک بل معبود | چه بیا ته د غورزولې شې

تاته رالیږلې دې. او د الله تعالی سره بل معبود مه شریکوه، کنې په دوزخ کښې

فِیْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۳۹﴾ اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِیْنَ

په دوزخ کښې | ملامته شوې | شړلې شوې | آیا غوره کړي یې تاسو | ستاسو رب | ځامنو د پاره

په ملامته او ذلیل ګوزار وهلې شې. (اې مشرکانو!) آیا ستاسو رب تاسو له خو ځامن درکړل

وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ اِنَّكُمْ لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلًا عَظِیْمًا ﴿۴۰﴾

او نیولې یې دي | فرښتې (ځان د پاره) | لونړه | بیشکه تاسو | البته وایئ | خبره ډیره (سخته)

او ځان له هغه (ځان له) فرښتې لونړه جوړې کړې دي؟ بیشکه تاسو ډیره سخته خبره کوئ.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِیْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِیَذَّكَّرُوْا ؕ وَمَا یَزِیْدُهُمْ

او یقیناً مونږ په رنګ رنګ بیان کړې دې | په دې قرآن کښې | چه دوی نصیحت حاصل کړي | او نه زیاتوي ددوی (دا قرآن)

او مونږ په دې قرآن کښې (د توحید مضمون) په رنګ رنګ بیان کړې دې چه دوی پرې پوهه شي. مګر (ددې نه خو

اِلَّا نُفُوْرًا ﴿۴۱﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا یَقُوْلُوْنَ

مګر | په نفرت کښې | ووایه | که چرې وې | هغه سره | نور معبودان | لکه څنګه چه | دوی وائي

ددوی (کفارو) نفرت نور زیاتیږي. ورته ووایه که چرې د الله تعالی سره نور معبودان هم وې لکه چه دوی وائي

اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰی ذِی الْعَرْشِ سَبِیْلًا ﴿۴۲﴾ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی

نو هغه وخت به | دوی ضرور لټولې وه | د عرش د مالک طرف ته | څه لاره | پاک دې هغه | او اوچت دې

نو په دې صورت کښې به دوی د عرش د مالک طرف ته ضرور څه لاره لټولې وه. هغه د دې خبرو نه پاک دې

ع ۴

عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۝٤٣ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ

له هغه څه نه | چه دوئ ئې وائي | په اوچتوالی | لوئې سره | پاکی بیانوي | د هغهٔ | آسمانونه | اووهٔ واړه

او څهٔ چه دا خلق وائي له هغې نه هغه زيات اوچت او لوئې دے . اووهٔ آسمانونه او زمکه او هغه ټول څيزونه

وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ۚ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ

او زمكه | او هر هغه څهٔ چه په دې كښې دي | او نهٔ دے | هيڅ څيز | مگر پاكي بيانوي | د هغهٔ په حمد سره

چه په دے كښې آباد دي د هغهٔ پاكي بيانوي او داسے څيز نشته چه هغه د الله د تعريف سره د هغهٔ پاكي

وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ ۗ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ۝٤٤

ليكن | تاسو نهٔ پوهيږئ | په تسبيح ياد ولو د دوئ | بيشكه هغه | دے | د زغم خاوند | بخښونكے

نهٔ بيانوي ، خو تاسو د هغوئ په تسبيح نهٔ پوهيږئ ، بيشكه هغه ډير حليم (او) بخښونكے دے .

وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

او هر كله چه لولے ته | قرآن | مونږ كوو | په مينځ ستا | او په مينځ د هغو چا كښې | چه ايمان نهٔ راوړي

او هر كله چه ته قرآن لولے ، نو مونږ ستا او د هغې خلقو ترمينځهٔ چه په آخرت باندې ايمان نهٔ

بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُوْرًا ۝٤٥ وَّجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً

په آخرت | يوه پرده | پټه | او مونږ غورزولي دي | د دوئ په زړونو | پردے

راوړي يوه پټه پرده راواچوو . او مونږ د هغوئ په زړونو داسے پردے واچوو چه

اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ

چه دوئ پوهه نهٔ شي په دې | او د دوئ په غوږونو كښې | درون والے | او هر كله چه | ته ئې ياد وے | خپل رب

هغوئ پرے پوهه نهٔ شي او د هغوئ په غوږونو كښې درون والے پيدا كوو ، او هر كله چه ته په قرآن كښې يوازے

فِى الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ۝٤٦ نَحْنُ اَعْلَمُ

په قرآن كښې | يوازے | نو دوئ گرځي | په شا گانو خپلو | په نفرت | مونږ ښهٔ پوهه يو

د خپل رب ذكر كوے ، نو هغوئ وروته شاكړي او په نفرت سره ترے نه روان شي ، مونږ ته ښهٔ معلومه

بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ بِهٖٓ اِذْ يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ وَاِذْ هُمْ

په كوم غرض چه | دوئ آوري دا | هر كله چه | دوئ غوږ نيسي | ستا طرف ته | او هر كله چه دوئ

ده چه د كوم غرض د پاره دا خلق آوريدنه كوي ، څهٔ وخت چه دوئ تا ته غوږونه نيسي او څهٔ وخت چه دوئ

نَجْوٰٓى اِذْ يَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا

پټې پټې صلاح مشورې كوي | هر كله چه | وائي | ظالمان | چه تاسو پيروي نهٔ كوئ | مگر

په خپل مينځ كښې پټې پټې صلاح مشورې كوي كوم وخت چه دا ظالمان وائي چه تاسو خو په يو داسے سړي پسے روان

رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ۝٤٧ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ

د يو سړي | چه په هغهٔ جادو شوے دے | وگوره | چه څنګه | بيانوي | تا د پاره | مثالونه

يئ چه د جادو عمل پرے شوے دے . وگوره كنه ! چه دا خلق تا د پاره څنګه څنګه مثالونه بيانوي؟

الربع

فَضَلُّوْا فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ سَبِیْلًا ﴿۴۸﴾ وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا

پس دوی بې لارې شول | پس دوی نه شي موندلے | لاره | او دوی وائي | آیا هرکله چه مونږ شو

نو دوی په خپله ګمراه شوي دي او سمه لار موندلے نه شي. او دوی وائي چه آیا هرکله مونږ هډوکي او ریزه

عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِیْدًا ﴿۴۹﴾ قُلْ

هډوکي | او چوره | آیا مونږ به | بیا راپاڅولے شو؟ | په پیدا ښت | نوی کښې؟ | ووایه

چوره شو نو د نوي سرې به بیا راپیدا کیږو او بیا به راپورته کیږو؟ درته ووایه

كُوْنُوْا حِجَارَةً اَوْ حَدِیْدًا ﴿۵۰﴾ اَوْ خَلْقًا مِّمَّا یَكْبُرُ

شئ تاسو | کاڼړي | یا اوسپنه | یا یو بل څه څیز | له هغه څه نه | چه لوئے وي

چه تاسو کاڼړي شئ یا اوسپنه شئ. یا څه بل سخت څیز چه ستاسو په خیال کښې (د هغې ژوندي کیدل)

فِیْ صُدُوْرِكُمْ ۚ فَسَیَقُوْلُوْنَ مَنْ یُّعِیْدُنَا ؕ قُلِ الَّذِیْ فَطَرَكُمْ

ستاسو په سینو (زړونو) کښې | بیا دوی به ووائي | څوک به | مونږ بیا پیدا کړي؟ | ووایه | هغه کوم چه | تاسو پیدا کړي

ډیر ګران وي نو دوی به ضرور ووائي چه بیا نو مونږ به څوک بیا راژوندي کوي؟ ته ووایه چا چه تاسو په وړومبي

اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَیُنْغِضُوْنَ اِلَیْكَ رُءُوْسَهُمْ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ ؕ

په اول ځل | پس دوی به وخوزوي | ستا طرف ته | خپل سرونه | او دوی به وائي | کله به وي دا

ځل پیدا کړي وئ. نو (په تعجب سره) ستاسو په مخکښې به سرونه وخوزوي (یعنې خبره به نه مني) او پوښتنه به وکړي چه دا

قُلْ عَسٰٓى اَنْ یَّكُوْنَ قَرِیْبًا ﴿۵۱﴾ یَوْمَ یَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِیْبُوْنَ

ووایه | شاید | چه هغه وي | نزدے | په کومه ورځ چه | هغه راوبلي تاسو | نو تاسو به جواب ورکوئ (تعمیل به کوئ)

به کله وي؟ ورته ووایه کیدے شي چه هغه وخت نزدے راغلے وي. دا به په هغه ورځ وي چه (الله به) تاسو راوغواړي

بِحَمْدِهٖ وَتَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۵۲﴾ وَقُلْ

د هغه په ثنا سره | او تاسو به خیال کوئ | چه | تاسو (په دنیا کښې) پاتې شوي یئ | مګر لږ ساعت | او ووایه

نو تاسو به د هغه تعریفونه کوئ او د هغه حکم به منئ او دا خیال به کوئ چه تاسو ډیر لږ ساعت (په دنیا کښې) پاتې شوي وئ

لِّعِبَادِیْ یَقُوْلُوا الَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ الشَّیْطٰنَ یَنْزَغُ

زما بندګانو ته | چه (خبرې) هغه وائي | کومه چه | د ټولو نه ښه وي | بیشکه | شیطان | فساد اچوي

او زما بندګانو ته ووایه چه هغه خبره کوئ چه ډیره زیاته ښه وي. بیشکه شیطان د دوي ترمینځ فساد

بَیْنَهُمْ ؕ اِنَّ الشَّیْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِیْنًا ﴿۵۳﴾ رَبُّكُمْ

د دوي په مینځ کښې | بیشکه | شیطان | دے | د انسان | دښمن | ښکاره | ستاسو رب

اچوي. بیشکه شیطان د انسان ښکاره دښمن دے. ستاسو رب

اَعْلَمُ بِكُمْ ؕ اِنْ یَّشَاْ یَرْحَمْكُمْ اَوْ اِنْ یَّشَاْ یُعَذِّبْكُمْ ؕ

ښه پوهه دے | په حال ستاسو | که چرې | هغه وغواړي | نو رحم به وکړي په تاسو | یا که چرې هغه وغواړي | نو عذاب به درکړي تاسو ته

ته ستاسو حال ښه معلوم دے که چرې هغه وغواړي نو په تاسو به رحم وکړي یا که هغه وغواړي نو تاسو له به عذاب درکړي

ع ۵/۵

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۵۴﴾ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ

او مونږ نه یې لیږلی ته | په دوی باندې | ذمه وار | او ستا رب | ښه پوهه دے | په هغه څه چه

او مونږ ته د دوئی د پاسه څه ذمه وار خو لیږلے نه یې . او ستا رب ته ښه معلوم دي څه چه په آسمانونو

فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعْضٍ

په آسمانونو کښې | او زمکه کښې دي | او بیشکه | فضیلت ورکړے دے مونږ | ځنې پیغمبرانو ته | په ځنو باندې

او مزکه کښې (موجود) دي ، او مونږ ځنې نبیانو له په ځنې (نورو) باندې فضیلت ورکړے دے

وَّاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿۵۵﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ

او ورکړو مونږ | داؤد ته | زبور | ووایه | را اوبلئ تاسو | هغه خوک چه | تاسو گمان کوئ

او مونږ داؤد ؑ له زبور (نومے کتاب) ورکړے دے . دوی ته ووایه چه تاسو د الله نه سوا نور خو مره معبودان جوړکړی دي

مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ﴿۵۶﴾

سوا د هغه نه | پس دوی اختیار نه لري | د لرے کولو | د تکلیف | له تاسو نه | او نه د بدلولو

هغوئی خو لږ را اوبلئ هغوئی نه خو ستاسو څه تکلیف لرے کولے شي او نه (یو مصیبت) بدلولے شي .

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ

هغه خلق | کوم چه | دوی رابلي | دوی لټوي | خپل رب طرف ته | وسیله | چه څوک لږ دي

دوئی چه څوک (په خدایۍ باندې) بلي ، هغوئی پخپله د ځان په حقله د خپل رب نزدیکت لټوي چه (د کوم) چه

اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ؕ اِنَّ عَذَابَ

زیات نزدے دے | او دوی امید لري | د هغه د رحمت | او دوی ویریږي | د هغه د عذابه | بیشکه | عذاب

څوک الله ته ډیر نزدے کیږي او د هغه د رحمت امید وار دي او د هغه د عذاب نه ویریږي ؟ بیشکه چه ستا د رب

رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ﴿۵۷﴾ وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا

ستا د رب | چه له هغې نه ویره کیدے شي | او نه دے | هیڅ یو کلے | مگر مونږ یو | هلاکوونکي یو د هغې

د عذاب نه ویره پکار ده . او (د کافرانو) داسې یو کلے نشته کوم چه مونږ د قیامت نه وړاندې

قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ

وړاندې | د ورځې د قیامت نه | یا عذاب ورکوونکي یو د هغې | په عذاب | سخت سره | دے | دا

وړاندې هلاک نه کړو یا د هغې کلي اوسیدونکو خلقو له سخت عذاب ورنه کړو ، دا (د الله) په کتاب

فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۵۸﴾ وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ

په کتاب کښې | لیکلې شوے | او نه دے منع کړي مونږ | چه مونږ ولیږو | نخښې

کښې لیکلي پراته دي . او مونږ نخښې لیږل څه منع کړے چه وړاندینو خلقو

اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ

مگر | دا چه دروغ گڼلې دي | دا | وړاندینو خلقو | او ورکړې وه مونږ | ثمود ته | اوښه

دا دروغ گڼلے کړے وے ، او مونږ ثمود یانو ته اوښه (د صالح ؑ د نبوت) ښکاره

مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ؕ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾

څرګنده | پس ظلم وکړو دوی | په هغې | او نه | لیږو موږ | نخښې | مګر د پاره د ویرولو

څرګنده ورکړه ، نو هغوی په هغې ظلم وکړو او موږ خو داسې معجزې ویرولو د پاره رالیږو.

وَاِذْ قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ؕ وَمَا جَعَلْنَا

او هر کله چه | موږ ووییل | تا ته | بیشکه | ستا رب | راګیر کړی دی | خلق | او نه ده جوړه کړې موږ

او (اے نبی!) هغه وخت را یاد کړه چه موږ تا ته ووییل چه ستا رب د ټولو خلقو نه را چاپیره دے او دا موږ چه تا ته

الرُّءْيَا الَّتِىْۤ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ

ښودنه | هغه چه | موږ ده ښودلې تا ته | مګر آزمیښت | د پاره د خلقو | او هغه اُونه | چه پرې لعنت شوے

کومه نظاره ښودلے ده هغه مو د خلقو د پاره د آزمیښت سبب وګرځوله ، او هغه اُونه هم چه په قرآن کښې

فِى الْقُرْاٰنِ ؕ وَنُخَوِّفُهُمْ ۙ فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ﴿۶۰﴾ وَاِذْ

په قرآن کښې | او موږ ویروو دوی | پس نه زیاتوی دا دوی | مګر په سرکشۍ | لویه (کښې) | او هر کله چه

پرې لعنت را غلے دے او موږ خو دا خلق بیا بیا ویروو خو په هغې باندې د دوی سرکشي نوره هم زیاتیږي. او هر کله

قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْۤا اِلَّاۤ اِبْلِيْسَ ؕ قَالَ

موږ ووییل | فرښتو ته | چه سجده وکړئ | آدم ته | نو دوی سجده وکړه | سوا د ابلیس نه | ده ووییل

چه موږ فرښتو ته ووییل چه تاسو آدم (علیه السلام) ته سجده وکړئ نو بغیر د ابلیس نه ټولو سجده وکړه هغه ووییل آیا زه ده

ءَاَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا ﴿۶۱﴾ قَالَ اَرَءَيْتَكَ هٰذَا الَّذِىْ

آیا زه سجده وکړم | هغه چا ته | چه تا پیدا کړو | له خټې نه | وے ووییل | آیا کتلی دی تا | دے کس ته

ته سجده وکړم کوم چه تا د خټې نه پیدا کړے دے ، ابلیس ووییل چه ته خو دے سړی ته ګوره چه تا په

كَرَّمْتَ عَلَىَّ ؗ لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَاَحْتَنِكَنَّ

چه عزت ورکړو تا | په ما باندې | که چرې تا مهلت راکړو ما ته | د قیامت تر ورځې پورې | نو بنیاد به او باسم زه

ما باندې اُوچت کړے دے ، که چرې ته تر قیامته پورې ما ته مهلت راکړې نو زه به د ده ټولو نه

ذُرِّيَّتَهٗۤ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۶۲﴾ قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

د ده د اولاد | سوا | د لږو نه | الله وفرمایل | ځه ! | پس څوک چه | پیروی وکړی ستا | له دوی نه

بغیر د ده ټول اولاد په خپل قابو کښې راولم ، حکم وشو چه ځه ! څوک چه له دوی نه ستا پیروی وکړی نو

فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿۶۳﴾ وَاسْتَفْزِزْ مَنِ

نو بیشکه | دوزخ | ستاسو سزا ده | سزا | پوره | او وغولوه | په چا چه

بیشکه دوزخ ستاسو د ټولو پوره پوره سزا ده ، او په دوی کښې چه ستا په چا

اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ

ستا وس رسی | له دوی نه | په خپل آواز سره | وزغلوه | په دوی باندې | سواره خپل

وس رسی نو هغوئ په خپل آواز سره وغولوه او په دوی باندې (د خپلو فوجونو) سواره او پیاده

وَرَجِلِكَ وَشَارِكۡهُمۡ فِى الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَوۡلَادِ وَعِدۡهُمۡ ؕ

او خپل پیاده | او شریک شه دوی سره | په مالونو کښې | او په اولاد (کښې) | او وعده ورکړه دوی ته

راولېږه ، او هغوی سره په مالونو او په اولاد کښې ځان له برخه ونیسه ، او هغوی سره وعدې

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيۡطٰنُ اِلَّا غُرُوۡرًا ﴿۶۴﴾ اِنَّ عِبَادِىۡ لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ

او وعده نه کوی دوی سره | شیطان | مګر (صرف) دوکه | بېشکه | بندګان زما | نشته تا ته | په دوی باندې

کوه او کومې وعدې چې شیطان هغوی سره کوی هغه ټوله دوکه ده . بېشکه زما په (مخلصانو) بندګانو په ستا زور

سُلۡطٰنٌ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيۡلًا ﴿۶۵﴾ رَبُّكُمُ الَّذِىۡ يُزۡجِىۡ لَـكُمُ الۡـفُلۡكَ

څه زور (غلبه) | او کافی دې | ستا رب | کارساز | ستاسو رب | هغه ذات دې | چې روانوی | تاسو د پاره | کشتۍ

نه چلېږی او ستا رب کافی کارساز دې . ستاسو رب هغه ذات دې چې تاسو د پاره په سمندر

فِى الۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِكُمۡ رَحِيۡمًا ﴿۶۶﴾

په دریاب کښې | چې تاسو ولټوئ | د ده فضل | بېشکه هغه | دې په تاسو باندې | ډېر مهربان

کښې کشتۍ چلوی چې تاسو د هغه فضل (روزی) ولټوئ . بېشکه هغه په تاسو ډېر مهربان دې .

وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِى الۡبَحۡرِ ضَلَّ مَنۡ تَدۡعُوۡنَ اِلَّاۤ اِيَّاهُ ۚ

او هر کله چې | رسېږی تاسو ته | تکلیف | په سمندر کښې | نو هېر شی | هغه څوک | چې تاسو ئې بلئ | د هغه (الله) نه سوا

او هر کله چې په سمندر کښې تاسو ته څه تکلیف رسېږی نو د الله تعالیٰ نه سوا کوم کوم چې تاسو بلئ هغه تاسو نه هېر

فَلَمَّا نَجّٰٮكُمۡ اِلَى الۡبَرِّ اَعۡرَضۡتُمۡ ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ كَفُوۡرًا ﴿۶۷﴾

بیا هر کله چې | خلاص ئې درکړو | د اوچې طرف ته | نو تاسو مخ واړوئ | او دې | انسان | ناشکره

شی ، بیا هر کله چې هغه تاسو اوچې طرف ته راوباسی نو تاسو مخ واړوئ ، او انسان ډېر ناشکره دې .

اَفَاَمِنۡتُمۡ اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ الۡبَرِّ اَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ

آیا پس تاسو بې وېرې شوئ | چې هغه ننوځ کړی | تاسو | طرف | د اوچې کښې | یا راولېږی | په تاسو باندې

آیا تاسو د دې خبرې نه بې غمه شوی یئ چې تاسو اوچې طرف ته راولی او په زمکه کښې ورننوځ کړی یا درباندې د کاڼو شګو

حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوۡا لَـكُمۡ وَكِيۡلًا ۙ﴿۶۸﴾ اَمۡ اَمِنۡتُمۡ

کاڼی ورونکې هوا | بیا به ونه مومئ | ځان د پاره | کارساز | یا | تاسو بې وېرې شوئ

سېلۍ راولېږی ، بیا تاسو د خپل ځان د پاره څوک کارساز بیا ونه مومئ . یا تاسو بې فکره شوی یئ

اَنۡ يُّعِيۡدَكُمۡ فِيۡهِ تَارَةً اُخۡرٰى فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفًا

له دې نه چې هغه تاسو واپس کړی | په دې کښې | په دویم ځل | بیا راولېږی | په تاسو باندې | سخت طوفان

چې هغه دوباره تاسو دې (دریاب) ته بوځی ، بیا په تاسو باندې د هوا سخت طوفان

مِّنَ الرِّيۡحِ فَيُغۡرِقَكُمۡ بِمَا كَفَرۡتُمۡ ۙ ثُمَّ لَا تَجِدُوۡا لَـكُمۡ عَلَيۡنَا

د هوا | بیا تاسو غرق کړی | په وجه د دې چې تاسو کفر وکړو | بیا به | ونه مومئ تاسو | ځان د پاره | په مونږ

راولېږی ، بیا تاسو د ناشکرۍ په بدله کښې غرق کړی ، نو بیا به هیڅوک زمونږ نه د پوښتنې

بِهٖ تَبِيْعًا ﴿٦٩﴾ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ

په دې خبره | څوک نیولو والا | او بیشکه | عزت ورکړو موږ | اولاد د آدم ته | او موږ سواره کړل دوی | په اوچه

قابل هم بیا نهٔ مومئ. او بیشکه موږ د آدمؑ اولاد ته عزت ورکړے دے او موږ دوئ په اوچه او په دریاب دواړو

وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ

او سمندر کښې | او موږ دوئ ته روزي ورکړه | له پاکیزه څیزونو نه | او فضیلت ورکړو موږ دوئ ته | په ډیرو باندې له هغه چا

کښې سواره کړي دي او موږ دوی له د پاکیزه څیزونو نه رزق ورکړو او په خپل ډیر مخلوقات باندې مو ورله ښکاره

خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴿٧٠﴾ يَوْمَ نَدْعُوْا كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمْ ۚ

ع ٧

کوم چه موږ پیدا کړي دي | په فضیلت ورکولو سره | په کومه ورځ | چه راوبلو موږ | ټول خلق | د دوي د پیشوایانو سره

فضیلت ورکړے دے. هغه ورځ رایاده کړه چه موږ به ټول خلق د خپلو خپلو پیشوایانو سره راوغواړو

فَمَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ

پس چا ته چه | ورکړے شوه | عمل نامه د هغهٔ | د هغهٔ په ښي لاس کښې | پس دغه خلق به | لولي | خپله عملنامه

نو د چا عملنامه چه د هغوئ ښي لاس کښې ورکړے شوه، نو هغوئ به خپله عملنامه لوستل شروع کړي

وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿٧١﴾ وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰى فَهُوَ

او په دوي به ظلم نهٔ شي کولے | د پوتار برابر | او څوک چه وي | په دے (دنیا) کښې | ړوند | نو هغه (به)

او په هغوئ به د تار برابر هم ظلم نه کیږي. او څوک چه په دے دنیا کښې ړوند پاتے شي پس هغه به په

فِي الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى وَاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٧٢﴾ وَاِنْ كَادُوْا

په آخرت کښې (هم) | ړوند (وي) | او ډیر زیات به لارورکے | د لارے نه | او یقیناً | ذو دوی نزدے

آخرت کښې هم ړوند وي او د (خلاصئ) لارے نه به ډیر زیات بے لارے وي. او (اے نبي!) دوئ په دے خبره

لَيَفْتِنُوْنَكَ عَنِ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهٗ ۖ

چه الېته وغولوي تا | له هغه څیز نه چه | وحي کړے ده موږ | تا ته | چه ته وتړے | په موږ | بله خبره له دے نه

کښې ډیر کوشش کړے دے چه تا د هغه وحي نه چه موږ درلیږلے ده وغولوي په دے شان چه ته په موږ باندې څان نه څه دروغ وتړے

وَاِذًا لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ

او هغه وخت | به دوي نیولے وے ته | دوست | او که چرے موږ ستا قدم کلک کړے نهٔ وے | یقیناً نزدے وه

او که تا داسے کړے وے نو دوئ به (خپل څان سره) خوږ اشنا کړے وے. او که موږ ستا قدم کلک کړے نهٔ وے نو دا خبره

تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيْلًا ﴿٧٤﴾ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ

چه ته مائل شوے وے | د دوي طرف ته | لږ شان | هغه وخت | به موږ څکولے وے تا ته | غبرګه (سزا) | د ژوند

بعیده نهٔ وه چه ته ور ته لږ شان مائله شوے وے. په دے صورت کښې به موږ تا له په ژوند کښې او د مرګ

وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾

او غبرګ (عذاب) | د مرګ (نه پس) | بیا به نهٔ مومے ته | څان د پاره | په مقابله زموږ کښې | څوک مددګار

نه پس د غبرګے سزا مزه څکولے وه نو بیا به تا زموږ په مقابله کښې هیڅوک مددګار موندلے نهٔ وو.

وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا وَاِذًا

او بیشکه نږدې وو | چه دوی ستړیږ باسي تا | زمکې (د مکې) نه | چه دوی وباسي تا | له دې ځلۍ نه | او دې وخت کې

او نږدې وه چه دوی (کافرانو) دې زمکې (د مکې نه) ستا قدمونه خوپولي او چه تا د دې (ملک) نه بهر اوباسي، خو

لَا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝٧٦ سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا

به پاتې نه شي دوی | پس له تانه | مګر | لږ | په شان د دستور | د هغه چا چه | رالیږلي وو مونږ

په دې حال کې به هم ستا د وتلو نه پس دوی ډیر لږ ددلته پاتې شي. (دا زمونږ پخوانی دستور دی) لکه څنګه چه زمونږ دا

قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ۝٧٧ اَقِمِ

له تانه وړاندې | له پیغمبرانو زمونږ نه | او ته به نه مومې ته | زمونږ په سنت کې | څه بدلون | قائم کړه

دستور د هغه پیغمبرانو په حقله راغلی دی چه له تانه وړاندې مو لیږلي وو او زمونږ په دستور کې به هیڅ تبدیلي بیا نه مومې.

الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ

مونځ | په وخت د زوال | د نمر | ترتیارې پورې | د شپې | او قرآن (لوله)

ته خپل مونځ کوه، د نمر د ځوړ (ډډیدلو) نه (پس)، د شپې ترتیارې (خوریدو) پورې او (دې نه علاوه) د صبا

الْفَجْرِ ۭ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ۝٧٨ وَمِنَ الَّيْلِ

د صبا | بیشکه | قرآن (لوستل) | د صبا | د حاضرۍ وخت دی (د فرښتو) | او د شپې په څه برخه کې

مونځ هم کوه. بیشکه د صبا د مونځ کول (د فرښتو) د حاضرۍ وخت دی. او د شپې په یوه برخه

فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ

بیدار او سه | په دې (قرآن) سره | دا زیاتي دي | ستا د پاره | نږدې ده | چه تا ودروي | ستا رب

کې هم د تهجد مونځ کوه چه دا ستا د پاره زیاتي (مونځ) دی. امید دی چه ستا رب به تا له په مقام محمود

مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ۝٧٩ وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ

په مقام محمود کې | او ووایه | اې زما ربه! | داخل کړه ما | په داخلولو | غوره سره

کې ځلی درکړي. او ووایه اې زما ربه! ما (په مدینه کې) په ښه شان داخل کړه

وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا

او بهر ته راوله ما | په راویستلو | غوره سره | او ورکړه | ماله | له خپل طرف نه | غلبه

او (له مکې نه) ما په عزت سره وباسه او ماله د خپل طرف نه غلبه او مدد

نَّصِيْرًا ۝٨٠ وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۭ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ

خپل مدد سره | او ووایه | راغی | حق دین | او ورک شو | باطل دین | بیشکه | باطل | دی

راکړه. او دا اعلان وکړه چه حق (بس دا دی) راغی او باطل (لاړو) ورک شو. بیشکه باطل خو (همیشه هم) د ورکیدو

زَهُوْقًا ۝٨١ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ

ورکیدونکی | او مونږ نازلوو | له قرآن نه | هغه څه چه هغه | شفا ده | او رحمت دی | مؤمنانو د پاره

څیز وو. او مونږ په قرآن کې داسې څیزونه رالیږو چه د مؤمنانو د پاره شفا او رحمت دی.

وَلَا يَزِيدُ الظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنسَٰنِ

او نهٔ زیاتوی | په حق د ظالمانو کښې | مګر نقصان | او هر کله چه | انعام وکړو مونږ | په انسان

او د ظالمانو په حق کښې له دے نه هم نقصان زیاتیږی. او هر کله چه مونږ په انسان له نعمتونه ورکړو

أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا ﴿٨٣﴾ قُلْ

نو دے مخ واړوی | او تاؤ کړی خپله اړخ | او هر کله چه ورسیږی ده ته | بدی | نو دے شی | نا امیده | ته ووایه

نو (یا زمونږ د حکمونو نه) مخ اړوی او اړخ ګرځوی او چه لږ تکلیف ورته ورسیږی نو زر نا امیده شی (اے نبی!) دوی

كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ

هر څوک | کار کوی | په خپله طریقه باندې | پس ستاسو رب | ښهٔ پوهه دے | په هغه چا چه هغه

ته ووایه چه هر څوک په خپله طریقه باندې عمل کوی. بیشکه ستاسو رب هغه څوک ښهٔ پیژنی کوم چه د ټولو

۹ ع ۹ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ﴿٨٤﴾ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ۖ قُلِ الرُّوحُ

زیات صحیح | لار باندې دے | او دوی تپوس کوی له تا نه | د روح په حقله | ته ووایه | چه روح

نه زیات په سمه لار باندې دے. او خلق له تا نه د روح په حقله تپوس کوی. (دوی ته) ووایه چه روح زما د رب د حکم

مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ وَلَئِن

زما د رب په حکم دے | او نهٔ دے درکړے شوے تاسو ته | له علم نه | مګر لږ شان | او که چرے

نه (پیدا) دے ، او تاسو ته خو ډیر لږ علم درکړے شوے دے ، او که چرے مونږ

شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ

مونږ وغواړو | نو خامخا به یوسو مونږ | هغه څهٔ چه | وحی مو کړے ده مونږ | ستا طرف ته | بیا | به ته ونهٔ مومے

وغواړو نو کومه وحی چه مونږ تا ته درکړے ده هغه به درنه واپس کړو ، بیا به درته په دے حقله زمونږ

لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ

خپل ځان د پاره په دے سلسله | زمونږ په مقابله کښې | کارساز | مګر | رحمت | ستا د رب له طرف نه | بیشکه

په مقابله کښې هیڅوک مددګار پیدا نهٔ شی ، خو دا په تا باندې د خپل رب ډیر لوئے رحم دے ، (چه تا ته ئے

فَضْلَهُۥ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾ قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ

د هغهٔ فضل | دے | په تا باندې | لوئے | ووایه | که چرے | جمع شی (اتفاق وکړی) | انسانان | او پیریان

وحی درکړے ده) بیشکه په تا د هغهٔ فضل ډیر لوئے دے (اے نبی!) ته ووایه چه که ټول بنیادم او پیریان راټولے شی

عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ

په دے (خبره) چه دوی راوړی | په شان | د | قرآن | هیڅ کله به دوی راونهٔ وړی | په شان د دے | او که چرے شی

چه د دے قرآن په شان یو بل قرآن جوړ کړی نو (هیڅ چرے) د دے په شان جوړ دے نهٔ شی، اګر که دوی ټول

بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا الْقُرْءَانِ

ځنے د دوی | ځنو د پاره | مددګار | او بیشکه | مونږ په رنګ رنګ بیان کړو | خلقو د پاره | په دے قرآن کښې

د یو بل مددګار وی ، او مونږ خلقو ته په دے قرآن کښې هر قسم ښهٔ ښهٔ مضمونونه په رنګ رنګ

مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۫ فَاَبٰىٓ اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٨٩﴾ وَقَالُوْا

هر | مثال | پس قبول نهٔ کړو | اکثر خلقو | سوا | دَ ناشکرئ نه | او دوی ووئیل

بیان کړی دی ، خو بیا هم اکثر خلق ترے نه بغیر دَ انکار کولو نه پاتے نهٔ شول ـ او دوی وائی چه مونږ

لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ﴿٩٠﴾

مونږ به هیڅ کله ایمان رانهٔ وړو | په تا | تر دے چه | تهٔ جاری کړے | مونږ دَ پاره | له زمکے نه | څهٔ چینه

په تا هیچرے ایمان نهٔ راوړو ، تر څو چه تهٔ مونږ له دَ زمکے (دَ تل) نه یوه چینه راونهٔ باسے .

اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ

یا دی | تا دَ پاره | یو باغ | دَ کجورو | او دَ انګورو | پس تهٔ جاری کړه | نهرونه

یا ستا دَ کجورو او انګورو باغ دی ، او تهٔ دَ هغې په مینځ کښے ځائے په

خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ﴿٩١﴾ اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا

دَ دے په مینځ کښے | بهیدل | یا تهٔ راوغورزوے | اسمان | لکه څنګه چه | تهٔ ګمان کوے | په مونږ دَ

ځائے نهرونه وبهیوے ، یا څنګه چه تهٔ وائے چه په مونږ باندے دَ اسمان ټکړے

كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا ﴿٩٢﴾ اَوْ يَكُوْنَ لَكَ

ټوټے ټوټے | یا راولے | الله | او فرښتے | (د مونږ) مخامخ | یا دی | تا دَ پاره

راوغورزوے ، یا الله تعالیٰ او فرښتے مونږ ته مخامخ راولے ، یا دا چه ستا دَ سرو زرو

بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ تَرْقٰى فِي السَّمَآءِ ۭ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ

کور | له سرو زرو نه | یا تهٔ بره وخیژے | آسمان ته | او هیڅ کله به مونږ ونهٔ منو | ستا پورته ختل

یو کور دی ، یا دا چه تهٔ بره آسمان ته وخیژے او مونږ به ستا (آسمان ته) ختل هم نهٔ منو

حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ۭ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ

تر دے چه | تهٔ نازل کړے | په مونږ باندے | یو کتاب | چه وَلولو مونږ هغه | تهٔ ووایه | پاک دے | زما رب | نهٔ یم زهٔ

ترڅو چه تهٔ په مونږ یو کتاب راونهٔ لیږے کوم چه مونږ وَلولو ، تهٔ ورته ووایه چه زما رب پاک دے ، زهٔ خو صرف

اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَاۗءَهُمُ ع

مګر یو بنیادم | رالیږلے شوے | او نهٔ دو | منع کړی | خلق | له دے نه چه دوی ایمان راوړی | هر کله چه راغلو دوی ته

یو پیغام رسوونکے انسان یم . او دوی ځنې یواځے (دَ غفلت) خبرے دَ ایمان راوړلو نه منع نهٔ کړل څهٔ وخت چه هدایت

الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٤﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ

هدایت | مګر دا چه | دوی ووئیل | آیا لیږلے دے | الله | یو بنیادم | پیغمبر | ووایه | که چرے وے

ورته راغلو خو بس دے خبرے چه دوی ووئیل چه آیا الله (هیله بیله) یو بنیادم پیغمبر راولیږلو؟ تهٔ ورته ووایه چه

فِي الْاَرْضِ مَلٰۗئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَىِٕنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ

په زمکه کښے | فرښتے | چه ګرځیدلے | په آرام | نو مونږ به خامخا رالیږلے وو | په دوی باندے

که په زمکه باندے فرښتے ګرځیدلے او په آرام سره اوسیدلے نو مونږ به ضرور په هغوی یو

مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿٩٥﴾ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًاۢ

له آسمان نه | فرښته | پيغمبر | ووايه | کافي دے | الله | ګواه

فرښته رسول راکوز کړے وُو ، ته ورته ووایه چه زما او ستاسو ترمینځ الله تعالیٰ دَ ګواهۍ

بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿٩٦﴾ وَمَنْ

په مینځ زما | او په مینځ ستاسو کښے | بیشکه هغه دے | په خپلو بندګانو | خبردار | بینا | او چا ته چه

دَ پاره کافي دے ، الله تعالیٰ دَ خپلو بندګانو په حال ښه خبردے هر څه وینی ګوری ، څوک چه

يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ

لار وګښائی | الله | پس هم هغه | هدایت موندونکے دے | او څوک چه | هغه بے لارے کړی | نو ته به هیڅ کله بیا نه مومے | د دوی له

الله تعالیٰ په سمه لار روان کړی نو هغه سمه لار بیا موی . او څوک چه بے لارے کړی نو هیڅوک به بغیر دَ خدائے نه دَ

اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ ۭ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ

(څوک) مددګار | بغیر دَ هغه نه | او موږ به راپاڅوو دوی | په ورځ دَ قیامت | په مخونو دَ دوی

هغوئی مددګار بیا نه مومے . او موږ به دوئی دَ قیامت په ورځ په مخ راندۀ ، ګونګیان

عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ۭ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ

ړاندۀ | او ګونګیان | او کاڼۀ | ځائے دَ دوی | دوزخ دے | هر کله چه | په مړه کیدو راشی | نو زیاتوو به موږ په هغوئی

او کاڼۀ راپاڅوو ، دَ دوئی ټیکاؤنیه دوزخ دے ، هر کله چه دَ هغې لمبے په مړکیدو راشی نو موږ به نورې

سَعِيْرًا ﴿٩٧﴾ ذٰلِكَ جَزَاۗؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا

اور | دا | دَ دوی سزا ده | په وجه دَ چه دوی | انکار کولو | زموږ دَ آیتونو نه | او وئیل به ئے

زیاتے ترغلیٰ کړو - دا دَ هغوئی سزا ده ، ځکه چه هغوئی زموږ دَ آیتونو نه انکار کړے دو - او دا به ئے وئیل

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿٩٨﴾

آیا هر کله چه شو موږ | هډوکی | او ریزه ریزه | آیا موږ | به خامخا پاڅولے شو | په پیدا کولو | دَ نوی سره

چه هر کله موږ هډوکی او ریزه ریزه شو نو آیا بیا به دَ نوی سره راپیدا کیږو

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ قَادِرٌ

آیا دوی و نه لیدل | چه بیشکه الله | کوم چه | پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | هغه قادر دے

آیا دوی دے خبرے ته نه ګوری چه هغه الله چه (چا) آسمانونه او زمکه پیدا کړی دی په دے هم قادر

عَلٰٓي اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۭ فَاَبَى

په دے چه | پیدا کړی | په شان دَ دوی | او مقرر کړے ده | دوی لپاره | نیټه | چه په دے کښے هیڅ شک نشته | نو قبول نه کړو

دے چه دَ دوئی غوندې خلق راپیدا کړی ؟ هغه دوئی له یوه نیټه مقرر کړے ده چه هیڅ شک پکښے نشته ، نو

الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٩٩﴾ قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَاۗىِٕنَ رَحْمَةِ

ظالمانو | مګر ناشکری | ووایه | که چیرے | وئ تاسو مالکان | دَ خزانو | دَ رحمت

ظالمانو دَ انکار نه سوا (هیڅ) قبول نه کړل ـ ته ووایه که چیرے تاسو زما دَ رب دَ رحمت دَ خزانو مالکان

النصف

رَبِّيْٓ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْاِنْفَاقِ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ

زما دَ رب | دغه وخت به تاسو ضرور منع کولو | له ویرے نه | دَ خرڅ کیدو | او دے | انسان

شوی وے، نو بیا به هم تاسو دَ هغې دَ ختمیدو دَ ویرے نه لاسونه نیولی وو او انسان ډیر زیات تنګے

قَتُوْرًا ۟۠ (۱۰۰) وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔلْ

ډیر زیات تنګے | او بیشکه مونږه ورکړی دی | موسیٰ ته | نهه | نخښے | روښانه | پس پوښتنه وکړه

دے. او بیشکه مونږه موسیٰ (علیه السلام) له نهه ځرګندے نخښے ورکړے وے . نو بنی اسرائیلو

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ اِنِّيْ

له بنی اسرائیلو نه | هر کله چه راغے دوی ته | پس ووئیل | دهٔ ته | فرعون | بیشکه زهٔ

نه پوښتنه وکړه . هر کله چه (موسیٰ علیه السلام) دوی ته راغے نو فرعون دهٔ ته ووئیل اے موسیٰ! زما خیال

لَاَظُنُّكَ يٰمُوْسٰى مَسْحُوْرًا (۱۰۱) قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ

خامخا ګمان کوم په تا | اے موسیٰ! | چه جادو دړ باندې شوے دے | دهٔ ووئیل | بیشکه | پوهه یې ته | چه نه دی نازل کړی

دے چه په تا باندې چا جادو کړے دے . (موسیٰ) ووئیل چه تا ته ښه معلومه ده چه دَ آسمانونو او

هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ ۚ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّكَ

دا (نخښے) | مګر | رب دَ آسمانونو | او زمکے | دلیلونه | او بیشکه زهٔ | ګمان کوم په تا

زمکے دَ پروردګار نه سوا دا (نخښے) بل چا نه دی نازلے کړے دا (تاسو دپاره) دَ پوهے ذریعه دی او اے فرعونه! بیشکه زهٔ

يٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا (۱۰۲) فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ

اے فرعونه! | دَ هلاک شوی | پس هغهٔ اراده وکړه | چه | راوباسی دوی | له زمکے نه

خیال کوم چه ته به هلاک شے . نو فرعون اراده وکړه چه هغوئ دَ (مصر) ملک نه وباسی

فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ جَمِيْعًا ۙ (۱۰۳) وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ

نو مونږ دے غرق کړو | او څوک چه | دَ دهٔ سره وو | ټول | او مونږ ووئیل | پس له دهٔ نه

نو مونږ هغه او دَ هغهٔ ټول ملګری په یو ځائے غرق کړل او دَ هغهٔ نه پس مو بنی اسرائیلو

لِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ

بنی اسرائیلو ته | تاسو اوسیږئ | په زمکه کښے | بیا هر کله چه | راشی | وعده

ته ووئیل چه په دے ملک کښے اوسیږئ ، نو هر کله چه دَ آخرت دَ وعدے وخت

الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ؕ (۱۰۴) وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ

دَ آخرت | مونږ به راولو | تاسو | په جمع | او په حق سره | مونږ نازل کړے دے دا | او په حق سره

راشی ، نو مونږ به تاسو ټول راغونډ کړو . او مونږ دا کلام په حقه نازل کړے دے . او دا په حقه

نَزَلَ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۘ (۱۰۵) وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ

نازل شوے دے | او نهٔ یې رالیږلے مونږ ته | مګر زیرے ورکوونکے | او ویروونکے | او قرآن | مونږ جدا جدا کړو دا

نازل شوے دے او مونږ ته زیرے ورکوونکے او ویروونکے جوړ کړے رالیږلے یې . او دا قرآن چه دے نو دا مونږ

وقف لازم

وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ﴿١٠٦﴾

چه لوله ئې ته هغه | خلقو ته | په ځنډ ځنډ | او مونږ نازل کړو دا | په ټوټو ټوټو نازلولو سره

څو اې دا برخې کړے دے چه ته ئې خلقو ته په ځنډ ځنډ ولولے ، او مونږ رالیږلے هم ټوټې ټوټې دے

قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

ووایه | ایمان راوړئ تاسو په دے | یا ایمان راوړئ مه تاسو | بیشکه | هغه خلق کوم ته چه | ورکړے شوے دے | علم

(اے نبی! د خلقو ته) ووایه چه که تاسو پرے ایمان راوړئ او که نه راوړئ ، بیشکه کوم خلقو ته چه له دے نه وړاندې علم

مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ۙ﴿١٠٧﴾

له دے نه وړاندې | هر کله چه هغوی ته لوستلے شی | په دوی باندې | دوی پریوځی | په مخونو خپلو | سجده کوونکی

(کتاب) ورکړے شوے دے ، هر کله چه دَ هغوی په وړاندې ولوستلے شی نو هغوی ورته پړمخې په سجده پریوځی

وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿١٠٨﴾

او دوی وائی | پاک دے | زمونږ رب | بیشکه ده | وعده | زمونږ د رب | خامخا پوره کیدونکے

او دا وائی چه زمونږ رب پاک دے ، بیشکه زمونږ د رب وعده پوره کیدونکے ده ۔

وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ۩﴿١٠٩﴾ السجدة

او دوی پریوځی | په مخونو خپلو | ژړا کوونکی | او (قرآن) زیاتوی دوی | په عاجزئ کښے

او هغوی پړمخې پریوځی او (دے قرآن په اورېدو) د هغوی عاجزی نوره هم زیاته شی

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ

ووایه | وبلئ تاسو | الله | یا وبلئ تاسو | (په ویلو د) رحمٰن | په کوم نوم چه ئې | تاسو وبلئ | نو هم د هغه دی

ووایه چه که تاسو (د) الله (په نوم) بلنه وکړئ او که (د) رحمٰن (په نوم) بلنه وکړئ په کوم نوم چه ئې وبلئ نو د هغه

الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا

نومونه | ډیر ښه | او ډیر په اوچت آواز مه وایه | مونځ خپل | او مه ئې په پټه وایه

ټول نومونه ښائسته دی ، او ته خپل مونځ ډیر په اوچت آواز هم مه لوله او (بالکل) چُپ ئې هم مه لوله

وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿١١٠﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

او ولټوه | په مینځ د دے کښے | لاره | او ته ووایه | ټول تعریفونه | الله د پاره دی

بلکه د دے ترمینځه طریقه اختیار کړه ، او ته دا وایه ټول تعریفونه د الله تعالیٰ د پاره دی

الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ

کوم چه | نه دے نیولے (ځان ته پاره) | اولاد | او نشته دے | د ده | څوک شریک | په بادشاهئ کښے

کوم چه نه ئې څوک څوئے جوړ کړے دے او نه د ده په بادشاهئ کښے څوک شریک شته

وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ﴿١١١﴾

او نشته دے | د ده | څوک مددګار | د کمزورئ له وجهے نه | او د ده لوئی بیان کړه | ښه لوئی

او نه هغه کمزورے دے چه څوک ئې مددګار شی ، او د هغه لوئی ډیره ډیره بیانوه ۔

السجدة ۳

ع ۱۲ ۱۲

سُوْرَةُ الْکَهْفِ مَکِّیَّةٌ وَّ هِیَ مِائَةٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | وَّ عَشْرُ اٰیٰتٍ وَّ اثْنَا عَشَرَ رُکُوْعًا

سورۂ کهف په مکه کښې نازل شوې ده په دې کښې | (شروع) د الله په نوم چه ډېر مهربان او ډېر زیات رحم کوونکے دے | یو سل لس آیتونه او دولس رکوع گانې دي

د الله په نوم شروع کوم چه ډېر مهربان او ډېر زیات رحم خاوند دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْکِتٰبَ وَلَمْ یَجْعَلْ لَّهٗ

ټول تعریفونه | الله د پاره دي | چا چه | نازل کړو | په خپل بنده | کتاب (قرآن) | او پیدا ئې نه کړو | په هغې کښې

ټول تعریفونه الله د پاره دي چه په خپل (خاص) بنده ئې دا کتاب نازل کړو ، او په هغې کښې ئې د ذرے هومره

عِوَجًا ۝۱ قَیِّمًا لِّیُنْذِرَ بَاْسًا شَدِیْدًا مِّنْ لَّدُنْهُ وَیُبَشِّرَ

څه کوږوالے | سم نیغ | چه ووېروي (خلق) | د عذاب | سخت نه | د دهٔ له طرف نه | او چه زیرے ورکړي

کوږ پېچ پرے نه ښودو ، سم نیغ ئې نازل کړو (کتاب) چه د هغه سخت عذاب نه (خلق) ووېروي چه د الله د طرف نه دے او چه هغه

الْمُؤْمِنِیْنَ الَّذِیْنَ یَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا ۝۲

مؤمنانو ته | هغو ته چه | عمل کوي | نیک | چه | دوی د پاره | اجر دے | ښهٔ

مؤمنانو له زیرے ورکړي څوک چه نیک کارونه کوي چه د هغوی د پاره ډېر ښهٔ اجر مقرر دے .

مّٰکِثِیْنَ فِیْهِ اَبَدًا ۝۳ وَّیُنْذِرَ الَّذِیْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۝۴

د اُسېدو نکي به وي | په هغې کښې | همېشه | او چه ووېروي | هغه خلق چه | وائي | نیولے دے | الله | ځوئے

چه تل عمري به په هغې کښې اوسېږي ، او چه هغه کسان (د الله د ښوکے نه) ووېروي چه دا وائي چه الله (ځان له) یو ځوئے جوړ کړے

مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ؕ کَبُرَتْ کَلِمَةً تَخْرُجُ

نشته د دوی ته | په دے | څه علم | او نه د دوی پلارانو ته | لویه ده | دا خبره | چه وځي

دے ، د دے نه دوی ته څه علم شته او نه د دوی پلارانو ته وو (دا) ډېره سخته خبره ده چه د دوی د

مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ؕ اِنْ یَّقُوْلُوْنَ اِلَّا کَذِبًا ۝۵ فَلَعَلَّکَ بَاخِعٌ

د دوی د خُلو نه | دوی نه وائي | مګر (صرف) دروغ | نو شاید ته | هلاک کوونکے یې

خُلو نه وځي یقیناً دا خلق سراسر دروغ وائي (اے پېغمبره) که چرے دوی په دے کلام

نَّفْسَکَ عَلٰٓی اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ یُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِیْثِ اَسَفًا ۝۶

د خپل ځان | د دوی نه ورو ستو | که چرے دوی ایمان رانهٔ وړي | په دے خبره | د غم په وجه

ایمان رانهٔ وړي ، نو شاید چه ته د دوی په غم کښې خپل ځان هلاک کړے .

اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَی الْاَرْضِ زِیْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَیُّهُمْ

بیشکه مونږ جوړ کړي دي | څه چه | په زمکه دي | ښائست | هغې د پاره | چه مونږ په دوی ازمېښت وکړو | چه څوک په دوی کښې

بیشکه څهٔ چه په زمکه دي مونږ هغه د زمکے د پاره ښائست جوړ کړے دے د پاره د دے چه مونږ په هغو خلقو

اَحْسَنُ عَمَلًا ۝۷ وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ مَا عَلَیْهَا صَعِیْدًا

زیات ښهٔ دے | په عمل کښې | او بیشکه مونږ | خامخا کوونکي یو | څهٔ چه په دے (زمکه) دي | صفا میدان

ازمېښت وکړو چه په دوی کښې څوک ښهٔ عمل کوونکي دي او (هغه وخت به راشي چه) مونږ به د دے زمکے په مخ موجود ټول څیزونه

جُرُزًا ۸ؕ اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَالرَّقِیْمِ ۙ كَانُوْا

بے گیاہ | آیا تا گمان وکړو ؟ | چہ | اصحاب کہف (غاروالا) | او غـروالا | وو

سپینہ ډاگہ پریږدو۔ آیا ستا دا خیال دے چہ دَ غار او دَ لیکلے تختئ خاوندان زمونږ (دَ قدرت) پہ نخښو

مِنْ اٰیٰتِنَا عَجَبًا ۹ اِذْ اَوَى الْفِتْیَةُ اِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوْا رَبَّنَآ

زمونږ لہ نخښونہ | عجیبہ | هر کلہ چہ پناہ واخستہ | یو څو ځوانانو | پہ غار کښے | نو دوی ووئیل | اے ربہ زمونږہ

کښے یوہ ډیرہ عجیبہ نخښہ وُو ؟ څۀ وخت چہ دغے ځلمو پہ غار کښے پناہ واخستہ نو وُئے وئیل چہ اے زمونږ ربہ!

اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّهَیِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا ۱۰

راکړہ مونږ تہ | لہ خپل طرف نہ | رحمت | او پیدا کړہ | مونږ دَ پارہ | زمونږ پہ کار کښے | سمون

مونږ تہ دَ خپل طرف نہ رحمت راکړہ او زمونږ دے کار لہ دَ سمون خوړو سامان راپیدا کړہ۔

فَضَرَبْنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ فِی الْكَهْفِ سِنِیْنَ عَدَدًا ۱۱ۙ ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ

نو مونږ پردہ واچولہ | دَ دوی پہ غوږونو | پہ غار کښے | څو کلونہ پہ شمیر | بیا | مونږ راپاڅول دوی

نو مونږ دَ هغوئ پہ غوږونو باندے پہ دغہ غار کښے تر ډیرو کلونو (دَ خوب) پردہ واچولہ۔ بیا مو راپاڅول چہ گورو

لِنَعْلَمَ اَیُّ الْحِزْبَیْنِ اَحْصٰى لِمَا لَبِثُوْٓا اَمَدًا ۱۲ؒ

چہ مونږ معلوم کړو | چہ چا تہ | پہ دواړو ډلو کښے | پہ ښہ شان یاد دہ | دَ پاتے کیدو | مودہ -

چہ پہ دغہ دواړو ډلو کښے کوم یو تولے (پہ دے حالت کښے) دَ پاتے کیدو دَ مودے نہ زیات واقف دے -

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَیْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ ؕ اِنَّهُمْ فِتْیَةٌ اٰمَنُوْا

مونږ بیانوو | تا تہ | خبرہ دَ دوی | پہ حقہ | بیشکہ دوی | یو څو ځوانان وو | چہ ایمان ئے راوړو

مونږ تا تہ دَ دوی حالات صحیح صحیح بیانوو ، بیشکہ دا یو څو ځوانان وُو چہ پہ خپل رب

بِرَبِّهِمْ وَزِدْنٰهُمْ هُدًى ۱۳ۗۖ وَّرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ

پہ خپل رب | او مونږ نور زیات ورکړو دوئ تہ | هدایت | او مونږ مضبوط کړلے | دَ دوی زړونہ | هر کلہ چہ

باندے ئے ایمان راوړے وُو او مونږ دوی تہ نور زیات هدایت ورکړے وو او مونږ دَ دوئ زړونہ (پہ صبر سرہ) مضبوط کړی

قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَاۡ

دوی ودریدل | نو دوی ووئیل | زمونږ رب | رب دے | دَ آسمانونو | او زمکے | هیڅ کلہ بہ مونږ ونہ بلو

وو څۀ وخت چہ دوی (پورہ مستعد او) تیار شول او وُئے وئیل چہ زمونږ رب دَ آسمانونو او زمکے رب دے مونږ بہ هیڅکلہ ہم دَ هغۀ

مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا ۱۴ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا

بے لہ دۀ نہ | بل معبود | بیشکہ وئیلی بہ وی مونږ | دغہ وخت | بے ځایہ خبرہ | دا دے | زمونږ قوم

نہ بل څوک پہ معبود کیدو نہ بلو، کنی ډیرہ بے ځایہ خبرہ بہ مو کړی وی ، دے خلقو (یعنی) زمونږ خپل قوم

اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ لَوْلَا یَاْتُوْنَ عَلَیْهِمْ بِسُلْطٰنٍۭ

دوی نیولی دی | بے لہ هغۀ نہ | نور معبودان | ولے نۀ | راوړی دوی | پہ دوی | څۀ دلیل

دَ الله نہ سیوا نور خلق ځان لہ معبودان نیولی دی ، دوئ پہ دغہ (فرضی) معبودانو باندے ولے یو څرگند دلیل نۀ

ع ۲
۱۴

بَیِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا ﴿۱۵﴾ وَاِذِ

واضح | پس څوک | زیات ظالم دے | له هغه چا نه | چه وتړی | په الله باندې | دروغ | او هرکله چه

ویانې کوی؟ او دَهغه چا نه زیات ظالم څوک کیدے شی چه په الله باندې دَ دروغو تهمت لګوی ۱۰ او هرکله چه

اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَمَا یَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ فَاْوٗٓا اِلَی الْكَهْفِ یَنْشُرْ

تاسو دَ دوئ نه جدا شوئ | او دَ کومو چه دوی عبادت کوی | سیوا دَ الله نه | نو پناه واخلئ | په غار کښے | خور به کړی

تاسو هغوئ (مشرکان) او دَ کومو چه هغوئ دَ الله تعالیٰ نه سیوا عبادت کوی پریښودل نو په غار کښے پناه واخلئ ستا

لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَیُهَیِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿۱۶﴾

تاسو دِ پاره | ستاسو رب | خپل رحمت | او پیدا به کړی | تاسو دِ پاره | ستاسو په کار کښے | آسانی

رب به تاسو دَ پاره خپل رحمت خور کړی او ستاسو کارونو کښے به دَ آسانئ (سامان) پیدا کړی.

وَتَرَی الشَّمْسَ اِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْیَمِیْنِ

او ته به ووینے | نمر | هرکله چه راخیژی | (نو) بېچ کیږی | دَ دوی له غار نه | ښی طرف ته

او چه نمر راخیژی نو ته به ئے ګورے چه دَ هغوئ غار نه ښی اړخ ته بېچ کیږی

وَاِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِیْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ ؕ

او هرکله چه | پریوزی | نو په وړه تیریږی له دوئ | ګس اړخ ته | او دوی | په ارت ځائے کښے دی | دَ هغه (غار)

او چه پریوزی نو دَ هغوئ نه ګس اړخ ته وړه کوی او هغوئ دَ غار په ارت بیرت ځائے کښے وو

ذٰلِكَ مِنْ اٰیٰتِ اللّٰهِ ؕ مَنْ یَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ

دا | له نخښو نه دی | دَ الله | چا ته چه | هدایت وکړی | الله | نو هغه | لار موندونکے دے

دا دَ الله تعالیٰ دَ نخښو نه (یوه نخښه) ده څوک چه الله تعالیٰ په سمه لار واچوی نو هغه په سمه لار روان شی

وَمَنْ یُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِیًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾ ع ۲ ۵ ۱۴

او څوک چه | هغه بے لارے کړی | نو هیڅ کله به ونه مومے ته | دَ هغه دَ پاره | څوک دوست | سمه لار ښودونکے.

او څوک چه بے لارے کړی نو هیڅوک به دَ هغهٔ مددګار لار ښودونکے بیا نهٔ مومے.

وَتَحْسَبُهُمْ اَیْقَاظًا وَّهُمْ رُقُوْدٌ ۖۗ وَّنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْیَمِیْنِ

او ته به ګمان وکړے په دوی | دَ ویښو | حال دا دے چه دوی | اوده دی | او مونږ اړوو را اړوو دوی | ښی طرف ته

او (اے مخاطبه) تا به خیال کولو چه دوی ویښ دی حال دا دے چه دوی اوده دی، او مونږ دوی ښی او ګس اړخ ته

وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖۗ وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَیْهِ بِالْوَصِیْدِ ؕ

او ګس طرف ته | او دَ دوی سپے | خورے کړی دی | خپل دواړه څنګلے | په دُورشل

اړوو را اړوو ، او دَ دوئ سپے په دُورشل باندې خورے څنګلے ناست وو

لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَیْهِمْ لَوَلَّیْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿۱۸﴾

که ور شے ته | په دوی باندې | نو ته به ګرځے ته | له دوی نه | په تیښته | او ډک به شے ته | له دوی نه | په ویره

کهٔ تا ورته (هیله غونډې) سر ورښکاره کړے وے نو په تیښته به تر نه تښتیدلے وے او دَ هغوئ رعب به در باندې خور شوے وو.

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ۭ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ

او همدغه شان | مونږ دوی راپاڅول | چه پوښتنه وکړی دیو بل نه | په خپل مینځ کښے | دوئیل یو وئیلونکی | له دوی نه | څومره

او دغه شان مونږ دوی راویښ کړل چه په خپل مینځ کښے دیو بل نه پوښتنه وکړی ، نو یو تن پکښے دوئیل چه تاسو به

لَبِثْتُمْ ۭ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۭ قَالُوْا رَبُّكُمْ

درنګ وکړو تاسو | دوی وئیل | مونږ پاتے شو | یوه ورځ | یاڅه برخه | د ورځے | دوی وئیل | ستاسو رب

څومره موده دلته پاتے کړی وی ؟ دوی وئیل مونږ یوه ورځ یا دیوورځے څه حصه تیره کړه (پس) دوی وئیل ، ستاسو رب

اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ۭ فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ

ښه پوهه دے | په هغه چه څومره پاتے شوئی تاسو | پس ولیږئی | یو له تاسو نه | په دے روپو خپلو | چه دا دی

ښه پوهه دے چه تاسو څومره موده تیره کړه نو (دا بحث پریږدئی خو) یو تن د یوے روپئی سره ښار طرف ته

اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ

ښار طرف ته | پس ودِ ګوری | چه کوم یو | ښه پاکیزه دے | طعام | نو هغه دِ راوړی تاسو ته | رزق

ولیږئی ، نو ودِ ګوری چه دکوم خوراک ښه پاکیزه دے نو د هغے نه دِ څه لږ شان خوراک تاسو ته

مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ۝١٩ اِنَّهُمْ

له هغے نه | او نرمی دِ کوی | او نهٔ دِ خبروی | په تاسو باندے | هیڅوک | بیشکه دوی

له راوړی او خلقو سره دِ خوږے پستے (خبرے) کوی او ستاسو حال دِ چاته نهٔ وائی ، که هغوئی

اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ فِيْ مِلَّتِهِمْ

که غالب شی دوی | په تاسو باندے | نو سنګسار به کړی تاسو | یا به واپس راولی تاسو | په خپل دین کښے

درباندے خبر شو نو سنګسار به مو کړی ، او خپل مذهب ته به مو بیا واپس کړی

وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا اِذًا اَبَدًا ۝٢٠ وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْٓا

او هیڅ کله به کامیاب نهٔ شئ | په دغه وخت کښے | همیشه | او دغه شان | مونږ خبردار کړل خلق | په دوی باندے | چه پوهه شی دوی

او که چرے داسے وشو نو تاسو به چرے هم کامیاب نهٔ شئ او دغه شان مونږ خلق د هغوئی په حال خبر کړل چه په دے

اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيْهَا ڱ

بیشکه | وعده د الله | رښتیا ده | او دا چه | قیامت | هیڅ شک نشته | په دے کښے

پوهه شی چه د الله تعالیٰ وعده رښتینې ده ، او دا چه د قیامت په راتلو کښے هیڅ شک نشته ،

اِذْ يَتَنَازَعُوْنَ بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوْا عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ۭ

هر کله چه دوی جګړه کوله | په خپل مینځ کښے | د دوی په معامله کښے | نو دوی وئیل | جوړ کړئی | په دوی | عمارت

هر کله چه (د هغے زمانے خلقو) د دوی په حقله په خپل مینځ کښے جګړه کوله نو دوئی وئیل چه په دوئی باندے یو عمارت جوړ

رَبُّهُمْ اَعْلَمُ بِهِمْ ۭ قَالَ الَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰٓى اَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ

رب د دوی | ښه پوهه دے | په دوی | دوئیل | هغه خلقو | چه غالب وو | په خپل کار باندے | خامخا به جوړ کړو مونږ

کړئی ، د هغوئی رب ته د هغوئی حال ښه معلوم دے ، نو څوک چه په خپل کار باندے غالب وو ، هغوئی وئیل چه مونږ خو به

عَلَيْهِمْ مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾ سَيَقُوْلُوْنَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ

اوځینې به وائي دوی | سپی دے | څلورم د دوی | هغه درې دی | اوس به وائي دوی | یو جومات | په دوی

دلته یوه عبادتخانه جوړوو. (اوس) څوک به وائي چه هغوی درې تنه وو او څلورم ئې سپی وو او څوک به وائي چه پنځه

خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًۢا بِالْغَيْبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ سَبْعَةٌ

هغه اووه دي | او دوی به وائي دوی | غائبانه | په ویشتلو | سپی دے | شپږم د دوی | هغه پنځه دی

تنه وو او شپږم ئې سپی وو ، دا ټول بې تحقیقه خبرې دي ، او څوک به وائي چه اووه تنه وو

وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ

نه دي پوهه په دوی باندې | په تعداد د دوی | ښه پوهه دے | زما رب | ته ووایه | سپی د دوی دے | او اتم د دوی

او اتم د دوی سپی وو ، (اے پیغمبره!) ته ووایه زما رب ته د هغوی شمیر ښه معلوم دے ، په دوی

اِلَّا قَلِيْلٌ ۗ فَلَا تُمَارِ فِيْهِمْ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ۖ وَّلَا تَسْتَفْتِ

او تپوس مه کوه | ظاهري (سرسري) نه | سیوا د بحث | په دې (باره) کښې | پس جګړه مه کوه | مګر لږ خلق

باندې صرف لږ غوندې خلق پوهه دي . پس ته د سرسري بحث نه سیوا د دوی په باره کښې زیات بحث مه کوه او د دوی

فِيْهِمْ مِّنْهُمْ اَحَدًا ﴿٢٢﴾ وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَايْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ

دا | چه بیشکه زه کوونکے یم | هیڅ څیز ته | او مه وایه | له هیچا نه | په هغوی کښې | په دې (باره) کښې

په حقله په دې خلقو کښې د هیچا نه تپوس مه کوه ، او د هیڅ څیز په حقله دا مه وایه چه زه به ئې صبا له

غَدًا ﴿٢٣﴾ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۫ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ وَقُلْ

او ووایه | هر کله چه له تا نه هیر شي | خپل رب | او یاد وه | وغواړی الله | مګر دا چه | صبا ته

کوم ، سوا د دے نه چه الله تعالیٰ ئې غواړي او خپل رب یاد وه هر کله چه خبره درنه هیره شي او دا وایه

عَسٰٓى اَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّيْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾ وَلَبِثُوْا

او دوی پاتے شول | د ښیګړے | له دے نه | زیاته نژدے | زما رب | چه ما ته لار وښائی | اُمید دے

چه اُمید دے چه زما رب ما ته دا سے لار وښائي چه د دے نه ډیره نژدے (خبره) راته سمه کړي ، او دغه خلق

فِيْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُ

الله | ووایه | نهه (کالونه) | او زیات کړل دوی | کاله | سوه | درے | په غار کښې

په خپل غار کښې نهه کاله د پاسه درے سوه کاله (او دوه) پاتے شول . ته ووایه چه الله تعالیٰ

اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا ۚ لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ ۭ

او ښه اوري | هغه ښه ویني | او د زمکے | د آسمانونو | غیب | هم د هغه دي | چه څومره موده دوی پاتے شول | ښه پوهه دے

ته ښه معلومه ده چه څومره موده پاتے شوی وو ، هغه ته د آسمانونو او زمکے ټولے غیبي خبرے معلومے دي هغه هر څه ویني که

مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ ۡ وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾ وَاتْلُ

او ته لوله | څوک | په خپل حکم کښې | او هغه نه شریکوی | څوک مدد ګار | له هغه نه سیوا | نشته دوی ته باره

او هر څه اوري او نه ئې . الله نه سیوا د دوی بل ملګرے نشته او نه هغه په خپل حکم کښې بل څوک شریکوی . او ته لوله

ع ۱۵ ۳

مَآ اُوۡحِیَ اِلَیۡكَ مِنۡ كِتَابِ رَبِّكَ ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ

هغه څه چې | وحی یې شوې ده | ستا طرف ته | ستا د رب له كتاب نه | نشته هیڅوک بدلوونكې | د هغه د خبرو

کوم وحی چه درته د خپل رب د کتاب په ذریعه راغلې ده، د هغه د خبرو هیڅ بدلوونکی نه شي

وَلَنۡ تَجِدَ مِنۡ دُوۡنِهٖ مُلۡتَحَدًا ﴿۲۷﴾ وَاصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ الَّذِیۡنَ

او ته به هیڅ کله ونه مومې | د هغه نه سیوا | څه پناه | او راټینګ کړه | خپل ځان | د هغه خلقو سره

او د هغه نه بغیر به هیچیرې ته پناه بیا نه مومې (اې پیغمبره!) ته خپل ځان په هغه چا پورې ترلې ساته

یَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَالۡعَشِیِّ یُرِیۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ

چه بلي | خپل رب | سحر | او ماښام | دوی غواړي | رضا د هغه

چه سحر ماښام خپل پروردګار یادوي او د هغه رضامندي غواړي

وَلَا تَعۡدُ عَیۡنٰكَ عَنۡهُمۡ ۚ تُرِیۡدُ زِیۡنَةَ الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا ۚ وَلَا تُطِعۡ

او نه دې تیریږي | ستا سترګې | له دوی نه | چه غواړې ته | ښائست | د ژوندن د دنیا | او مه منه وینا

او خپلې سترګې د هغوی نه مه اړوه چه د دنیا د ژوندن د ښائست طلبګار شې او د هغه چا خبره مه

مَنۡ اَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهٗ عَنۡ ذِكۡرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمۡرُهٗ

د هغه چا | چه غافل کړې دې موږ | زړه د هغه | د خپل ذکر نه | او پیروي یې کړې ده | د خواهش خپل | او دې | کار د هغه

منه چه د هغه زړه موږ د خپل ذکر نه غافل کړې دې او هغه د خپل خواهش پیروي وکړه او د هغه کار د

فُرُطًا ﴿۲۸﴾ وَقُلِ الۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكُمۡ ۟ فَمَنۡ شَآءَ فَلۡیُؤۡمِنۡ

له حده تیر شوی | او ته ووایه | دا حق دی | له طرف د رب ستاسو نه | نو څوک چه | غواړي | نو ایمان دې راوړي

حد نه تیر شوی دی او ته ووایه چه دا قرآن ستاسو د رب له طرف نه برحق دی نو څوک چه غواړي ایمان دې راوړي

وَّمَنۡ شَآءَ فَلۡیَكۡفُرۡ ۙ اِنَّآ اَعۡتَدۡنَا لِلظّٰلِمِیۡنَ نَارًا ۙ اَحَاطَ بِهِمۡ

او څوک چه غواړي | نو کافر دې شي | بیشکه موږ تیار کړې دی | ظالمانو د پاره | اور | راګیر به کړي | دوی

او څوک چه غواړي نو کفر دې وکړي، موږ ظالمانو له داسې اور تیار کړې دی چه د هغې پردې به ترې نه د هغې

سُرَادِقُهَا ؕ وَاِنۡ یَّسۡتَغِیۡثُوۡا یُغَاثُوۡا بِمَآءٍ كَالۡمُهۡلِ یَشۡوِی

پردې د هغې | او که چیرې | دوی فریاد وکړي | نو فریاد به یې واورې | په اوبو | په شان د ویلې شوي تانبې | چه وریتوي به

غاړې راچاپیره وي او که چیرې هغوی (د تندې) فریاد کوي نو د ویلې شوي تانبې په شان یشیکې اوبه به ورته ملاویږي چه

الۡوُجُوۡهَ ؕ بِئۡسَ الشَّرَابُ ؕ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ﴿۲۹﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

مخونه | بد | څښل دي | او بد دی | ځای د استوګنې | بیشکه | هغه خلق چه | ایمان یې راوړی

مخونه به وریت کړي، څومره خراب څښل به وي او څومره خراب ځای به وي. بیشکه چا چه ایمان راوړی دی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اِنَّا لَا نُضِیۡعُ اَجۡرَ مَنۡ اَحۡسَنَ عَمَلًا ﴿۳۰﴾ۚ

او عمل یې وکړو | نیک | بیشکه موږ | نه ضائع کوو | اجر | د چا چه | ښه کړې دی | عمل

او نیک کارونه یې کړي دي نو موږ د هغه چا اجر هیڅکله نه ضائع کوو چه نیک کارونه کوي۔

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ یُحَلَّوْنَ

هم داخلیږي دي | چه دوي به | باغونه دي | د همیشه اوسیدو | بهیږي | لاندې د دوی نه | نهرونه | اغوستلی به شي دوي ته

داهغه خلق دي چه دوي له همیشه اوسیدو باغونه دي چه لاندې به ترې نه ویالې بهیږي ، د سرو زرو

فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّ یَلْبَسُوْنَ ثِیَابًا خُضْرًا مِّنْ سُنْدُسٍ

په هغې کښې | کنګڼ | د سرو زرو | او دوي به اغوندي | جامې | شنې | د باریکو ریښمو

کنګڼ به ورته (په لاسونو کښې) اچولې شي ، او شنې نرۍ او غټې ریښمینې جامې به

وَّ اِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٕیْنَ فِیْهَا عَلَى الْاَرَآىِٕكِ ؕ نِعْمَ الثَّوَابُ ؕ وَ حَسُنَتْ

او غټو ریښمو | تکیه لګوونکي به وي | په هغې کښې | په تختونو | ښه | جزاده | او ښه ده

اغوندي ، په تختونو به ئې تکیه لګولې وي ، څنګه ښه بدله ده ، او څنګه ښه

مُرْتَفَقًا ؕ۳۱ وَ اضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَیْنِ جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا جَنَّتَیْنِ

ځائې د آرام | او بیان کړه | دوي ته | مثال (حال) | د دوو سړو | مونږ جوړ کړل | یوله دوي نه | دوه باغونه

ځائې ده ، او اے پیغمبره!) ته دوي ته د هغه دوه کسانو حال واوروه چه مونږ پیکښې یوته د انګورو دوه باغونه

مِنْ اَعْنَابٍ وَّ حَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ وَّ جَعَلْنَا بَیْنَهُمَا زَرْعًا ؕ۳۲

د انګورو د اونو | او مونږ را ګیر کړل دا دواړه | د کجورو (په اونو) | او جوړ کړو مونږ | په مینځ د دوي کښې | فصل

ورکړي وو او هغه مونږ کجورو په اونو کښې راګیر کړي وو او د هغې باغونو ترمینځه مو (شنه زرغون) پټي جوړ کړي وو.

كِلْتَا الْجَنَّتَیْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا وَ لَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَیْـًٔا ۙ وَّ فَجَّرْنَا

دواړو | باغونو به | راوړل | میوے خپلے | او نه | به ئې کمولو | له هغې نه | څه څیز | او جاري کړې وو مونږ

دواړو باغونو به خپلے پوره پوره میوے ورکولے او د دواړو پیداوار کښے به هیڅ قسم لږ کے نه راتلو او مونږ د هغے

خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ۙ۳۳ وَّ كَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَ هُوَ یُحَاوِرُهٗۤ

د دواړو په مینځ کښې | لښتے | او وے | ده لره | میوے | نو ده وویل | خپل ملګري ته | او ده خبرے کولے د هغه سره

دواړو (باغونو) ترمینځه د اوبو لښتے بهولے وو . او د ډیرې نورې هم میوه وغیره وه نو هغه خپل ملګري ته په خبرو خبرو کښے

اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّ اَعَزُّ نَفَرًا ۳۴ وَ دَخَلَ جَنَّتَهٗ

زه | ډیر یم | له تانه | په مال کښے | او زیات عزتمند یم | په لحاظ د خلقو | او دے داخل شو | په خپل باغ کښے

دویل چه زه تانه په مال کښے هم زیات یم او په خلقو دربانې هم غالب یم او هغه خپل باغ ته ورننوتو .

وَ هُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَاۤ اَظُنُّ اَنْ تَبِیْدَ هٰذِهٖۤ اَبَدًا ۙ۳۵

او دے | ظلم کوونکے وو | په خپل ځان | ده وویل | زه ګمان نه کوم | چه برباد به شي | دا | چرے

او په خپل ځان ئے زیاتے کولو . دے وویل چه زه خیال نه کوم چه دا (باغ) به برباد شي

وَّ مَاۤ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآىِٕمَةً ۙ وَّ لَىِٕنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّیْ لَاَجِدَنَّ

او زه ګمان نه کوم | چه قیامت به | قائم شي | او که چرے | زه واپس کړے شوم | خپل رب ته | نو خامخا به بیا مومم

او نه دا خیال کوم چه قیامت به (چرے) راشي . او که زه خپل رب ته (بالفرض) پستنه ورسیدم نو د دے

خَیْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ یُحَاوِرُهٗۤ اَكَفَرْتَ

وبه بیامومم | له دے نه | ځائے د ورتلو | وویل | ده ته | ملګری د ده | او هغه د ده سره خبرے کولے | آیا ته کفر کوے

(باغ) نه به هم بهتر ځائے بیا مومم (په دے باندې) هغه ملګری ورته وویل کوم چه ورسره خبرے کولے چه آیا ته

بِالَّذِیْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ

هغه سره چا چه | ته ئې پیدا کړے | له خاورے نه | بیا | له نطفے نه | بیا | ئے ته پوره جوړ کړے

د هغه ذات نه انکار کوے کوم چه ته ئې د خاورے نه پیدا کړے؟ بیا ئې د څاڅکي (اوبو) نه جوړ کړے او بیا ئې سم دم

رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّیْ وَلَاۤ اُشْرِكُ بِرَبِّیْۤ اَحَدًا ﴿٣٨﴾

سړے | لیکن زه (وایم) | هم هغه الله | زما رب دے | او زه نه شریکوم | خپل رب سره | هیڅوک

سړے جوړ کړے. لیکن زه خو دا وایم چه هم الله تعالیٰ زما رب دے او زه خپل رب سره څوک نه شریکوم.

وَلَوْلَاۤ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ اِلَّا

او ولے نه | هر کله چه ته داخل شوے | خپل باغ ته | تا وویل | څه چه الله غوښتلي وي | نشته د قوت | مګر صرف

او هر کله چه ته خپل باغ ته ورننوتے نو تا داسے ولے ونه ویل چه الله چه څه غواړي (هغه کیږي) د الله د مدد نه

بِاللّٰهِ ۚ اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسٰی رَبِّیْۤ

د الله (د مرستے نه) | که چیرته وینے ما | چه زه کم یم | له تا نه | په مال کښے | او اولاد کښے | نو شاید چه | زما رب

بغیر هیڅ طاقت نشته. که چیرے ته ما په مال او اولاد کښے خپل ځان نه کم ګورے، نو نزدے ده چه زما رب

اَنْ یُّؤْتِیَنِ خَیْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَیُرْسِلَ عَلَیْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ

ما ته راکړي | ښه | ستا له باغ نه | او راولیږي | په هغه (باغ) | آفت | له آسمان نه

ما له له تا نه ښه باغ راکړي او په دے باغ باندې د بره نه یو غیبي آفت راولی

فَتُصْبِحَ صَعِیْدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ اَوْ یُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِیْعَ

بیا هغه شي | د خاوره میدان | خوېوونکے | یا | شي | او به د هغه | ښکته | بیا ته هیڅکله ونه کړے شے

او دا (باغ) آوار شو بیا نه میدان پاتے شي. یا د دے باغ اوبه په کوهۍ لاندے شي او بیا ئې ته (د راخیژولو)

لَهٗ طَلَبًا ﴿٤١﴾ وَاُحِیْطَ بِثَمَرِهٖ فَاَصْبَحَ یُقَلِّبُ كَفَّیْهِ عَلٰی مَاۤ اَنْفَقَ

د دے | تلاش | او چاپیره شو (عذاب) | په میوو د هغه | پس شو هغه | چه مروړلے ئې | خپل لاسونه | په هغه څه چه | ده لګولی وو

هیڅ کوشش ونه کړے شے نو د هغه د میوو نه عذاب راچاپیره شو نو هغه په هغه سرمایه لاسونه ومروړل کوم چه

فِیْهَا وَهِیَ خَاوِیَةٌ عَلٰی عُرُوْشِهَا وَیَقُوْلُ یٰلَیْتَنِیْ لَمْ اُشْرِكْ

په هغه کښے | او هغه | راپریوتے وو | په خپلو چتونو | او ویل ئې | اے کاش! | ما نه شریکولے

هغه په هغے کښے لګولے وه او د هغے باغ ټول چتونه راپریوتي وو، او دا به ئې ویل چه اے کاش! ما د خپل رب

بِرَبِّیْۤ اَحَدًا ﴿٤٢﴾ وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ یَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

خپل رب سره | هیڅ کس | او نه شو | د ده د پاره | هیڅ ټولے | چه د ده مدد ئې کړے وے | د الله نه سیوا

سره هیڅوک شریک کړے نه وے. او هیڅ یو داسے ټولے ورسره ملګرے نه شو چه د الله په مقابله کښے ئې د هغه مدد

وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ۝٤٣ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ۭ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا

اونهٔ وو ځنګه دَ بدلے اخستو قابل | په دا سے موقع | اختيار | دَ الله دَ پاره دے | برحق | هغه | بهتر دے | په ثواب ورکولو کښے

کړے وے اوند ئے (دَ مرغونه) بدله اخستے شوه. په دا سے وخت کښے کاروند صرف دَ برحق خدائے کار دے. هم هغه بهتر ثواب

وَّخَيْرٌ عُقْبًا ۝٤٤ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ

او بهتر دے | په بدله ورکولو کښے | او بيان کړه | دوی دَ پاره | مثال | دَ ژوندون دَ دنيا | چه هغه په شان دَ اوبو دے

ورکونکے او غوره بدله ورکونکے دے. او (اے نبی! ته) دوی ته دَ دُنيا دَ ژوند مثال بيان کړه (هغه داسے دے) لکه چه

اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ

چه موږ دا راليږلی دی | له آسمان نه | پس ورګډ شو | دَ دے په ذريعه | شينکے | دَ زمکے | بيا هغه شوه

اوبه، کوم چه موږ دَ آسمان نه راواوروِلے، بيا دَ هغے په وجه بڼهٔ ګور شينکے راوټوکيږی او بيا هغه ذرے

هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ۝٤٥

چوره چوره | چه الوزوی هغے لره | هواګانے | او دے الله | هر څيز باندې | قدرت لرونکے

ذرے شی چه باد ونه ئے (اخوا دیخوا) الوزوی او الله تعالیٰ په هر څيز پوره پوره قدرت لری

اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ

مال | او ځامن | زينت دی | دَ دنيا په ژوند کښے | او باقی پاتے کيدونکی | نيکيانے | غوره دی

مال او اولاد خوتش دَ دنيا دَ ژوندون ښائست دے او باقی پاتے کيدونکی نيک عملونه چه دی، نو هغه ستا

عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ۝٤٦ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى

ستا دَ رب په نزد | په ثواب کښے | او ډير ښهٔ دی | په اُميد کښے | او په کومه ورځ | چه روان به کړو موږ | غرونه | او ته به وينے

دَ رب سره دَ ثواب په حقله هم ښهٔ دے او دَ اُميد ساتلو په حقله هم ښهٔ دے او په کومه ورځ چه موږ غرونه لرے کړو او ته به

الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ۝٤٧

زمکه | هوار ميدان | او موږ به دوی جمع کړو | بيا به موږ پرې نه ږدو | له دوی نه | هيڅوک

وينې چه ټوله زمکه يو هوار ميدان پاتے شوے ده او موږ به خلق جمع کړو نو هيڅوک به پکښے باقی پرے نهٔ ږدو -

وَعُرِضُوْا عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا ۭ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ

او دوی به پيش کړے شی | ستا دَ رب په وړاندې | په قطار کښے | بيشکه تاسو راغلئ موږ ته | څنګه چه موږ پيدا کړی وئ

او ټول به ستا دَ رب په وړاندې په قطار ودرولے شی. (او ورته به وويلے شی) څنګه چه موږ تاسو په اول ځل پيدا کړی وئ

اَوَّلَ مَرَّةٍ ۢ بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا ۝٤٨ وَوُضِعَ الْكِتٰبُ

په اول ځل | بلکه تاسو ګمان کولو | چه موږ به هيڅ کله مقرر نه کړو | تاسو دَ پاره | څهٔ ميعاد | کښيښولے به شی | اعمالنامه

هم هغسے (نن) تاسو موږ ته راغلی يئ ليکن تاسو خو دا خيال وو چه موږ به ستاسو دَ پاره (دا) مقرر وخت نهٔ راولو او عمل نامه به کښيښودے شی

فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا مَالِ

پس وبه وينے | ګناهګاران | ويريدونکی | له هغه څهٔ نه چه په هغے کښے دی | او وبه وائی | اے افسوس! | څهٔ حال دے

نو ته به مجرمان ووينے چه دَ هغے (دَ ليک) نه ويريږی او دا به وائی چه هائے زمونږ بده نصيبه! دَ دے عمل نامے څه حيثيت

هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً اِلَّآ اَحْصٰىهَا ۚ

ددې | عملنامې | چه نه پرېږدي | هيڅ وړه ګناه | او نه | لويه | مګر دا کبيره کړې ده هغه

حال دې چه هيڅ يوه ګناه نه وړه او نه لويه ئې باقي پرېښودې ده خو هره يوه ئې ليکلې ده ـ

وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا ﴿۴۹﴾

او بيا به مومي | هغه څه چه | دوی کړي دي | (خپل) وړاندې | او ظلم به ونه کړي | رب ستا | په هيڅا

او کوم عملونه چه ئې کړي هغه دې به ټول موجود بيا مومي ، او ستا رب په هيچا زياتې نه کوي

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ

او هر کله چه وويل مونږ | فرښتو ته | سجده وکړئ | آدم ته | پس سجده وکړه دوی | سيوا | د ابليس نه

او هر کله چه مونږ فرښتو ته حکم ورکړو چه تاسو آدم عليه السلام ته سجده وکړئ نو ټولو سجده وکړه مګر ابليس (و نه

كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَ ذُرِّيَّتَهٗٓ

هغه وو | له پيريانو نه | پس هغه نافرماني وکړه | د خپل رب د حکم | نو آيا تاسو جوړوئ هغه | او | د هغه اولاد

کړه) ، هغه په (اصل کښې) پيری وو نو د خپل رب د حکم نه ئې نافرماني وکړه نو آيا اوس تاسو هغه او د هغه اولاد

اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ﴿۵۰﴾

دوستان | زما نه سيوا | او هغه دي | ستاسو | دښمنان | بد دی ده | د ظالمانو د پاره | بدله

زما په مقابله کښې په دوستئ نيسئ ، حال دا چه هغوی خو ستاسو (ښکاره) دښمنان دي ظالمانو له څومره خرابه بدله ورکړې شوه

مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ۪

نه وو حاضر کړي ما دوی | (په وخت) د پيدا وښت | د آسمانونو | او د زمکې | او نه (په وخت) د پيدا وښت د دوی ځانونو

ما نه خو دوی د آسمانونو او د زمکې د پيدا وښت په وخت کښې رابللي وو او نه د دوی د خپل پيدا وښت په وخت کښې

وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا ﴿۵۱﴾ وَيَوْمَ يَقُوْلُ نَادُوْا

او نه يم زه | نيونکې | د ګمراه کوونکو | مدد ګاران | او په کومه ورځ | چه الله وفرمائي | راوغواړئ

او زه داسې (عاجزه) نه وم چه ګمراه کوونکي به م خپل مددګاران جوړول او په کومه ورځ چه (الله) وفرمائي چه زما

شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَجَعَلْنَا

زما شريکان | په کوم چه | تاسو ګمان کولو (د معبود) | پس دوی آ هغوی را وبلي | نو هغوی به جواب ورکوي | دوی ته | او مونږ به جوړ کړو

هغه شريکان را وغواړئ په کوم چه تاسو (د معبودانو) خيال کولو نو دوی به ئې راوبلي خو هغوی به هيڅ جواب ورنه کړي

بَيْنَهُمْ مَّوْبِقًا ﴿۵۲﴾ وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا

د دوی په مينځ کښې | يوه پرده | او وبه وينې | مجرمان | اور | نو دوی به يقين وکړي | چه دوی | پرېوتونکي د په دې کښې

او مونږ به د دوی (او د معبودانو) ترمينځه يوه پرده ورکړو او مجرمان به (په خپلو سترګو) دوزخ ووينې او دا يقين به ئې راشي چه

وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴿۵۳﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

او دوی به نه مومي | له هغې نه | ځای د (د بچ وتلو) | او بيشکه | په رنګ رنګ مونږ بيان کړل | په دې قرآن کښې

دوی په کښې ورغورځيدونکي دي او د هغې نه د بچ کيدو به هيڅ لاره نه مومي ، او مونږ په دې قرآن کښې د خلقو (د پوهولو) د پاره

لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾

دَ پاره دَ خلقو | دَ هر قسم | مثالونه | او دے | انسان | دَ هر څیز نه زیات | جګړه مار

رنګ رنګ مثالونه بیان کړل ، خو انسان په جګړه کولو کښے دَ هر چا نه سیوا دے ۔

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا

او نه دی منع کړی | خلق | چه دوی ایمان راوړی | هر کله چه راغلو دوی ته | هدایت | او چه بخښنه وغواړی

او دا خلق دَ هدایت راتلو نه پس نو څه څیز دَ ایمان راوړلو نه او دَ خپل رب نه دَ بخښنے غوښتلو نه

رَبَّهُمْ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ

له رب خپل نه | سیوا دَ دے نه چه | راشی دوی ته | طریقه دَ پخوانو خلقو | یا راشی دوی ته | عذاب

منع کړی دی ؟ خو بس دا چه (دوی انتظار کوی چه) دَ پخوانو خلقو غونې معامله دِ دوی سره وشی یا دِ دوی باندے

قُبُلًا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ ۚ وَيُجَادِلُ

مخامخ | او مونږ نه لیږو | پیغمبران | مګر زیرے ورکوونکی | او ویروونکی | او جګړه کوی

مخامخ عذاب راشی ۔ او مونږ پیغمبران صرف په دے وجه رالیږو چه خلقو ته زیرے واوروی او عذاب نه ئے وویروی او کوم

الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ ۖ وَاتَّخَذُوا آيَاتِي

هغه خلق | چه کافران شول | په ناحقه | چه بے اثره کړی دوی | په دے سره | حق (خبره) | او ګرځولی دی دوی | آیتونه زما

خلق چه منکران دی په ناحقه جګړے کوی چه حق پرے بے اثره کړی ، او هغوی خو زما دَ قدرت)

وَمَا أُنْذِرُوا هُزُوًا ﴿٥٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ

او هغه څه | چه دوی پرے ویرولے شی | په توقه | او څوک دے | زیات ظالم | له هغه چا | چه پوهه کړے شی | په آیتونو | دَ رب خپل

نخښے او دَ کوم څیز نه چه ویرولے شوی (هغه ټول) توقے مسخرے ګرځولی او دَ هغه چا نه زیات ظالم څوک کیدے شی ؟ چه دَ خپل رب

فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا

نو هغه مخ واړوی | له هغے نه | او هغه هیر کړی | هغه څه | چه وړاندے لیږلی دی | دواړو لاسونو دَ ده | بیشکه مونږ اچولی دی

(دَ قدرت) دَ نخښو په ذریعه ورته نصیحت وکړے شی نو هغه ترے نه مخ وګرځوی او خپل (دَ ګناه) کارونه هیر کړی او مونږ

عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ

دَ دوی په زړونو باندے | پردے | چه دوی په دے پوهه (نه) شی | او دَ دوی په غوږونو کښے | درنوالے دے

دوی په زړونو باندے پردے راغوړولے دی چه ګنی په دے (قرآن) دِ پوهه شی او دوی هم په غوږونو درانه

وَإِنْ تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَنْ يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ

او که چرے | ته دوی راوبلے | هدایت طرف ته | نو دوی به هیڅکله لار بیا نه موندی | په دغه وخت | همیشه | او ستا رب

کړی دی او که ته ئے (هر څومره) سمے لارے ته راوبلے خو دوی به هیڅرے سمے لارے ته رانه شی ۔ او ستا رب

الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ

بخښونکے | خاوند دَ رحمت دے | که چرے هغه نیولے دوی | په هغه څه چه کړی دی دوی | نو هغه به زر لیږلے وو | دوی ته پاره

بخښونکے ډیر رحم کوونکے دے ۔ که الله تعالیٰ دَ دوی په عملونو باندے دوی نیول کولے نو سمدستی به ئے پرے

الْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا مِن دُونِهِ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾

عذاب | بلکه | دوی دپاره | یو میعاد دے | چه هیڅکله به دوی بیا نه مومی | د دے نه سیوا | د پناه ځائے

عذاب راوستے وو ، خو دوی له ئے داسے یو وخت مقرر کړے دے چه د هغے نه په هیڅ ځائے کښے پناه مونده نه شی

وَتِلْكَ الْقُرَىٰ أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾

او دا | کلی چه | مونږ دوی هلاک کړل | هر کله چه دوی ظلم وکړو | او مونږ مقرر کړو | د دوی تباهئ دپاره | یو مقرر وخت

او دغه کلی هر کله چه دوی ظلم وکړو مونږ تباه کړل او مونږ د دوی د تباهئ دپاره یو وخت مقرر کړے وو

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ

او هر کله چه دوئیل | موسیٰ | خپل ځوان (شاګرد) ته | زه به نه ودریږم | تر دے چه | زه ورسیږم | د ملاویدو ځائے | د دوو دریابونو

او هر کله چه موسیٰ خپل شاګرد ته دوئیل چه زه به روان یم تر دے چه زه د دوو بندونو ته ورسم

أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ

یا به روان یم | تر کلونو | بیا هر کله چه هغه دواړه ورسیدل | ځائے د ملاویدو ته | د دواړو تر مینځه | نو هیر کړو دواړو | کب خپل | پس ونیوله هغه

کنی په کلونو کلونو به دغے منزل کوم نو هر کله چه دواړه تنه هغے دوو بندونو ته ورسیدل نو خپل مهے ترے هیر شو نو هغه په

سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا

لاره خپله | په دریاب کښے | په شان د سرنګ | بیا هر کله | چه دوی وړاندې تیر شول | نو دوئیل | خپل شاګرد ته | راوړه مونږ ته

دریاب کښے (ځان له) لار ونیوله چه یو سرنګ جوړه شو . نو هر کله چه دواړه وړاندې تیر شول نو موسیٰ خپل شاګرد ته دوئیل چه

غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ

ناشته زمونږ | بیشکه ومونده مونږ | د خپل دے سفر نه | تکلیف | هغه دوئیل | آیا تا ولیدل؟ | هر کله چه

ناشته راوړه ، مونږ خو په دے نننی منزل بانږ ډیر ستړی شو . هغه ورته دوئیل آیا تا ونه لیدل ؟

أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنسَانِيهُ إِلَّا

مونږ ناست وو | د ګټ خوا ته | نو بیشکه ما | هیر کړو | کب | او هیر نه کړو له ما نه | مګر

هر کله چه مونږ د هغه ګټ خوا ته ناست وو نو زما نه کب (هم هلته) هیر شو او زما نه (تا ته) د هغے ذکر کول

الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ

شیطان | چه ما ذکر کړے وے د هغے | او هغه ونیوله | خپله لاره | په دریاب کښے | په عجیبه طریقه | موسیٰ دوئیل

شیطان هیر کړل . او کب خو په دریاب کښے ځان له په عجیبه شان لار جوړوله موسیٰ دوئیل

ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا

هم دا د (هغه ځائے) | چه مونږ لټولو | بیا هغه دواړه راواپس شول | په نخښو د قدمونو خپلو | چه کتل ئے | پس بیا ومونده دوی

چه هم دا خو هغه ځائے دے چه مونږ لټولو ، نو دواړه په خپلو قدمونو پسے اخر دلی روان شول ، نو هغوی زمونږ په

عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا

یو بنده | زمونږ له بندګانو نه | چه ورکړے وو مونږ ده ته | رحمت | له خپل ځان نه | او مونږ علم ورکړے وو ده ته | له خپل ځان نه

بندګانو کښے یو بنده بیا ومونده ، چه مونږ ورباندې خپل فضل کړے وو او د خپل طرف نه مونږ ورته یو (خاص) علم

عِلْمًا ﴿٦٥﴾ قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا

له هغه نه | يو علم | ووئیل | هغه ته | موسیٰ ؑ | آیا پیروی وکړم ستا | په دې (خبره) چه ته زده کړې ماته

ښودلے وو. موسیٰ هغه ته ووئیل آیا زه تا سره لاړ شم؟ په دې شرط چه ته ماته د ښیګړې هغه خبرې

عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾

چه ښودلے شوی دی تا ته | د ښیګړه | ده ووئیل | بیشکه ته به | هیڅ کله ونه کړې شې | ما سره | صبر

وښائې کومې چه تا ته ښودلے شوی دی. (خضر ؑ) ووئیل چه ته ما سره په پاتے کیدلو به صبر ونه کړې شې.

وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰى مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ

او څنګه به ته صبر وکړې | په هغه څه | چه احاطه نه ده کړې تا په هغې | د پوهې | ده ووئیل | ته به بیا مومې ما | که چیرې وغواړي

او د کومې خبرې چه تا ته خبر نشته نو ته په هغې څنګه صبر کولے شې. موسیٰ ووئیل که الله تعالیٰ وغواړي نو ته به

اللّٰهُ صَابِرًا وَّلَآ اَعْصِيْ لَكَ اَمْرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِيْ

الله | صبر کوونکے | او زه به نافرمانی نه کوم | ستا | د څه خبرې | ده ووئیل | پس که چیرې | پیروی کوې ته زما

ما صابر بیا مومې او زه به (هیڅ کار) ستا د حکم نه خلاف نه کوم (خضر ؑ) ووئیل چه بیا که ته ما سره پاتے کیدل غواړې

فَلَا تَسْـَٔلْنِيْ عَنْ شَيْءٍ حَتّٰٓى اُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿٧٠﴾

نو تپوس مه کوه له ما نه | د هیڅ څیز | تر دے چه | زه بیان کړم | تا ته | د هغې | ذکر

نو زما نه د هیڅ څیز په حقله تپوس مه کوه تر څو چه زه په خپله د هغې ذکر در ته ونه کړم

فَانْطَلَقَا ٝ حَتّٰٓى اِذَا رَكِبَا فِي السَّفِيْنَةِ خَرَقَهَا ؕ قَالَ

نو دواړه روان شول | تر دے چه | هر کله دواړه سواره شول | په کشتۍ کښې | هغه سورې وکړو په هغې کښې | موسیٰ ووئیل

نو دواړه روان شول تر دے چه په یوه کشتۍ کښې سواره شول نو (خضر ؑ) په کښې سورې وکړو، موسیٰ ورته

اَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا ۚ لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا اِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ

آیا تا سورې وکړو په دې کښې | چه ته ډوب کړې | خلق د دې | بیشکه تا وکړو | یو څیز | لوئے | ده ووئیل | آیا ما نه وو وئیلي

ووئیل تا په دې کښې سورے وکړو چه پکښې سواره خلق ډوب کړې دا خو تا عجیبه کار وکړو. (خضر ؑ) ووئیل ما نه وو وئیل چه ته به

اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِيْ بِمَا نَسِيْتُ

بیشکه ته | به هیڅ کله ونه کړې شې | ما سره | صبر | ده ووئیل | مه نیسه ما | په هغه څه | چه ما هیر کړل

ما سره په پاتے کیدلو صبر ونه کړې شې. موسیٰ ووئیل چه زما په هیره ما مه نیسه

وَلَا تُرْهِقْنِيْ مِنْ اَمْرِيْ عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَانْطَلَقَا ٝ حَتّٰٓى اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا فَقَتَلَهٗ ۙ

او مه اچوه په ما | زما په معامله کښې | سختي | بیا دواړه روان شول | تر دے چه | هر کله دواړه ملاو شول | یو هلک سره | نو هغه قتل کړو

او زما په دې معامله کښې ما سره ډیره سختي مه کوه. نو بیا دواړه روان شول تر دے چه یو هلک سره ملاو شول نو خضر ؑ هغه

قَالَ اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً ۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ ؕ لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿٧٤﴾

ده ووئیل | چه تا ووژلو | یو نفس | پاک | بې د قصاص د نفس نه | بیشکه تا وکړو | یو کار | نا خوښه

قتل کړو، موسیٰ ووئیل چه بنه! تا یو بې ګناه سړے بغیر د بدل نه ووژلو؟ دا خو ډیر خراب کار دې وکړو

ع ٩ / ٢١

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعليم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ

دوئیل دهٔ | آیا مانهٔ وُو وئیل | تا ته | بیشکه ته | به هیڅ کله ونهٔ کړے شے | ما سره | صبر | موسیٰ وُوئیل

(خضر) ورته دوئیل آیا ما تاته نهٔ وو وئیلی چه تهٔ به هیڅکله ما سره صبر ونهٔ کړے شے. موسیٰ وُوئیل

اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍۢ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ

که چرے | زهٔ تپوس وکړم له تا نه | د څهٔ څیز | نو مهٔ ملګرے کوه ما | پس له دے نه | بیشکه ته به رسیدلے یې | زما له طرف نه

که چرے د دے نه پس ما د څهٔ څیز په حقله تپوس وکړو نو بیا ما څان سره مهٔ ساته، بیشکه زما په حقله تا خپل

عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَانْطَلَقَا ٚ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ اَهْلَ قَرْيَةِ ۨاسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا

عذر ته | بیا دواړه روان شول | تردے چه | هر کله راغلل دوی | د یو کلی په خلقو | نو طعام ئے وغوښتلو | د کلی د خلقو نه

عذر پوره کړو. بیا دواړه روان شول، تر دے چه د یو کلی په خلقو تیریدل نو د هغوی نه ئے ډوډئ وغوښتله،

فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ

نو هغوی انکار وکړو | چه میلمستیا د وکړی د دوی | پس بیا مونده دوی | په دے (کلی) کښے | یو دیوال | چه غورزیدو ته تیار وو

نو هغوی ورته د میلمستیا ورکولو نه انکار وکړو نو دوی په هغه کلی کښے یو (زوړ) دیوال بیا موندهٔ چه غورزیدو ته تیار

فَاَقَامَهٗ ؕ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ﴿٧٧﴾ قَالَ

نو هغهٔ دا نیغ کړو | وُوئیل موسیٰ | که چرے غوښتلے تا | نو اخستے به وو تا | په هغے باندے | اجرت | (خضر) وُوئیل

وو، نو خضر هغه (دیوال) نیغ کړو، موسیٰ وُوئیل که تا غوښتلے نو په دے کار به دِ څهٔ نه څهٔ اجرت اخستے وو. خضر وُوئیل

هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ

دا ده | جدائی | په مینځ د زما | او په مینځ د ستا کښے | اوس به زهٔ وښایم تاته | مطلب | د هغه څهٔ | چه تا ونهٔ کړے شو

چه (بس) دا (وخت) زما او ستا د جدائی وخت دے. اوس زهٔ د هغه واقعاتو په اصلیت باندے تا خبروم چه تا پرے

عَلَيْهِ صَبْرًا ﴿٧٨﴾ اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ فِي الْبَحْرِ

په هغے باندے | صبر | هغه کومه | کشتئ چه (وه) | د یو څو مسکینانو وه | چه کار به ئے کولو | په دریاب کښے

صبر ونهٔ کړے شو، هغه کشتئ چه وه نو هغه د یو څو مسکینانو وه چه په دریاب کښے به ئے مزدوری کوله

فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ

نو ما وغوښتل | چه عیب ژنه کړم دا | او وو | په وړاندے د دوی نه | یو بادشاه | چه نیوله به ئے | هر یوه کشتئ

نو ما وغوښتل چه عیب پکښے پیدا کړم او د دوی نه وړاندے یو بادشاه وو، چه هره (ښه) کشتئ به ئے

غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَاَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَآ اَنْ يُّرْهِقَهُمَا

په زبردستئ | او هغه هلک چه وو | نو ؤو د هغه مور پلار | مؤمنان | پس مونږ ووېریدو | چه دے به غالب شی په دوی باندے

په زبردستئ نیوله. او هغه هلک چه وو نو د هغه مور او پلار ایماندار وو او مونږ سره ویره پیدا شوه چه چرته

طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَاَرَدْنَآ اَنْ يُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً

په سرکشئ | او په کفر کښے | پس وغوښتله مونږ | چه بدله ورکړی دے دواړو ته | رب د دوی | بهتره | له دے نه | په پاکیزګئ کښے

په سرکشئ او کفر کښے دے په دوی غالب رانهٔ شی. نو مونږه دا وغوښتله چه د دوی په بدله کښے ورله خپل رب داسے اولاد

وَ اَقۡرَبَ رُحۡمًا ﴿٨١﴾ وَ اَمَّا الۡجِدَارُ فَكَانَ لِغُلٰمَیۡنِ یَتِیۡمَیۡنِ فِی الۡمَدِیۡنَةِ

او ډیر نږدې | په مهربانۍ کښې | او هغه کوم دیوال چه وو | پس هغه وو | د دوو هلکانو | چه یتیمان وو | په ښار کښې

او ډیر نږدې دے په مهربانۍ کښې ، او هغه دیوال چه وو هغه د ښار د دوو یتیمانو هلکانو (ملکیت) وو او

وَ كَانَ تَحۡتَهٗ كَنۡزٌ لَّهُمَا وَ كَانَ اَبُوۡهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ

او وه | لاندې د دے نه | خزانه | د دوی | او وو | د دوی پلار | نیک | پس وغوښتل | ستا رب

د دے لاندې د دوی دواړو خزانه ښخه وه او د دوی پلار یو نیک سړے وو ، نو ستا رب دا وغوښتل چه دوی

اَنۡ یَّبۡلُغَاۤ اَشُدَّهُمَا وَ یَسۡتَخۡرِجَا كَنۡزَهُمَا ۖ رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ ۚ

چه ورسیږي دا دواړه | خپلې ځوانۍ ته | او دا دواړه را وباسي | خپله خزانه | په مهربانۍ | د رب ستا

دواړه پوخ عمر ته ورسیږي ، او خپله خزانه راوباسي ـــ دا (هر څه) ستا د رب په مهربانۍ سره

وَ مَا فَعَلۡتُهٗ عَنۡ اَمۡرِیۡ ؕ ذٰلِكَ تَاۡوِیۡلُ مَا لَمۡ تَسۡطِعۡ عَّلَیۡهِ

او نه دي کړي ما دا کار | په خپله رائے سره | دا دے | مطلب | د هغه څه | چه نه شو کولے تا | په هغه

کیدل او ما چه څه کړي دي په خپله مرضۍ مې نه دي کړي ، دا دے هغه حقیقت په کوم باندې چه تا صبر

صَبۡرًا ﴿٨٢﴾ وَ یَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنۡ ذِی الۡقَرۡنَیۡنِ ؕ قُلۡ سَاَتۡلُوۡا عَلَیۡكُمۡ

صبر | او دوی پوښتنه کوي له تا نه | په حقله | د ذو القرنین | ووایه | زه به واورووم | تاسو ته

ونه کړے شو . او (اے پیغمبره) تا نه خلق د ذو القرنین په حقله تپوس کوي ، ورته ووایه چه د هغه ذکر درته زه اوس

مِّنۡهُ ذِكۡرًا ﴿٨٣﴾ اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِی الۡاَرۡضِ وَ اٰتَیۡنٰهُ مِنۡ كُلِّ شَیۡءٍ

د هغه | څه حال | بیشکه مونږ حکومت ورکړے وو | هغه ته | په زمکه کښې | او مونږ ورکړے وو هغه ته | د هر قسم

آورووم ـ مونږ هغه له په زمکه باندې حکومت ورکړے وو ، او مونږ هغه له هر رنګه سار و سامان

سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَاَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتّٰۤی اِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ الشَّمۡسِ وَجَدَهَا

ساز و سامان | نو هغه روان شو | په یوه لاره | تر دے چه | هر کله چه ورسید | ځلېدو د ډوبېدو | د نمر ته | نو هغه بیا موندو هغه

ورکړے وو ، نو هغه په یوه لاره روان شو ، تر دے چه د نمر د ډوبیدو ځائے ته ورسید نو نمر ئې ګورې چه هغه د

تَغۡرُبُ فِیۡ عَیۡنٍ حَمِئَةٍ وَّ وَجَدَ عِنۡدَهَا قَوۡمًا ۬ؕ قُلۡنَا

چه ډوبیدو | په یوه چینه کښې | د تور خټې | او هغه بیا موندو | د هغې خوا کښې | یو قوم | مونږ ووئیل

تورې خټې په یوه چینه کښې ډوبیږي او د هغې په خوا کښې ئې یو قوم بیا موندو ، مونږ ورته ووئیل

یٰذَا الۡقَرۡنَیۡنِ اِمَّاۤ اَنۡ تُعَذِّبَ وَ اِمَّاۤ اَنۡ تَتَّخِذَ فِیۡهِمۡ حُسۡنًا ﴿٨٦﴾

اے ذو القرنین ! | یا دا چه سزا ورکړه ته | او یا | دا چه ته اختیار کړه | د دوی په حقله | ښه طریقه

چه اے ذو القرنین ! (ستا اختیار دے) که سزا ورکوے او که د دوی سره ښه (نرم) سلوک کوے ـ

قَالَ اَمَّا مَنۡ ظَلَمَ فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ یُرَدُّ اِلٰی رَبِّهٖ فَیُعَذِّبُهٗ

هغه ووئیل | هغه چا چه | ظلم ئې وکړو | نو ډیر زر به | مونږ سزا ورکړو هغه ته | بیا به واپس کیږي | خپل رب طرف ته | پس هغه به ورکړي

هغه ووئیل چه څوک نافرماني کوي نو هغه له به مونږ سزا ورکوو بیا به هغه خپل رب ته واپس کولے شي ، نو هغه به ورله

ع ١١

عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَاَمَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨ

عذاب | سخت | او هغه څوک چه | ایمان ئې راوړو | او عمل ئې وکړو | نیک | نو هغه ته | بدله ده

دیر سخت عذاب ورکوی۔ او څوک چه ایمان راوړی او نیک کارونه کوی ، نو هغه له به ښه بدله

الْحُسْنٰى ۚ وَسَنَقُوْلُ لَهٗ مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾

ښه | او ژر زر به موږ ورته ووایو | ده ته | په خپل کار کښې (خبره د) | آسانتیا | بیا | هغه روان شو | په یوه لاره

ورکوو ، او په خپله معامله کښې به موږ هغه سره نرمه خبره کوو۔ بیا هغه په یوه (بله) لاره روان شو۔

حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلٰى قَوْمٍ

تر دې چه | هر کله ورسیدلو | ځای د ختلو | د نمر ته | نو بیائې موندو هغه | چه راختلو | په یو قوم

تر دې چه هر کله هغه مشرق (طرف ته یو ځای) ته ورسیدلو نو هغه نمر په یو داسې قوم باندې په راختلو بیا موند

لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذٰلِكَ ۭ وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا

چه نه وه جوړ کړې موږ | دوی ته | د دې په مخکښې | څه پرده | هم داسې ده | او بیشکه موږ احاطه کړې وه | په هغه څه

چه موږ ورله د نمر نه د بچ کیدو (هیڅ څه) پرده جوړه کړې نه وه۔ دا خبره هم داسې ده او موږ ته د هغه ټول

لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ

چه د ده سره وو | علم۔ | بیا هغه روان شو | په یوه لاره | تر دې چه | هر کله ورسیدو | په مینځ د دوو غرونو کښې

ساز و سامان پوره پوره معلوم دی۔ بیا هغه په یوه (بله) لاره روان شو۔ تر دې چه هغه د دوو غرونو مینځ ته ورسیدو

وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴿٩٣﴾ قَالُوْا

نو بیا موندو ده | د دې بل طرف ته | یو قوم | چه نه وو نزدې دې ته | چه دوی پوهه شي | په خبره | دوی ووئیل

نو د هغه نه بل طرف ته ئې یو داسې قوم بیا موندو چه تقریبًا په خبره نه پوهیدل۔ دوی ووئیل

يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ فَهَلْ

اے ذو القرنینؑ! | بیشکه | یاجوج | او ماجوج | فساد کوونکی دی | په زمکه کښې | نو آیا

اے ذو القرنینؑ! بیشکه یاجوج او ماجوج په دې زمکه کښې ډیر فسادونه کوی نو آیا موږ

نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ

موږ جمع کړو | تا د پاره | څه مال ؟ | په دې شرط | چه ته جوړ کړې | په مینځ زموږ | او په مینځ د دوی کښې | یو دیوال | ده ووئیل

تا له څه مال راجمع کړو ؟ چه ته زموږ او د هغوئ تر مینځه یو دیوال جوړ کړې۔ ده ووئیل

مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ خَيْرٌ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ

چه کوم طاقت راکړې دې ماته | په دې حقله | زما رب | هغه ښه دې | پس تاسو زما مدد وکړئ | په طاقت سره | زه به جوړ کړم | په مینځ ستاسو

په کوم (مال) باندې چه ماله زما رب قدرت راکړې دې هغه ډیر ښه دې ، تاسو (صرف) د محنت په طاقت زما امداد وکړئ زه به

وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ۭ حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ

او په مینځ د دوی کښې | یو دیوال | تاسو راوړئ ماله | تختې | د اوسپنې | تر دې چه | هر کله | هغه برابر کړو | مینځ

ستاسو او د هغوئ تر مینځه یو دیوال جوړ کړم ، تاسو ماله د اوسپنې تختې راوړئ ، تر دې چه د دواړو غرونو تر مینځه

الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوْا ۗ حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِيْٓ

د دواړو غرونو ګېنې | نو ذوالقرنين وويل | (او د) وپوکئ | تر دې چې | هر کله هغه کړه دا | اور | (نو) وې ويل | راوړئ ماله

څنډې يې برابرې کړه نو حکم يې وکړو چې (اوس يې) وپوکئ. تر دې چې هغه يې لکه د اور سور کړو نو وې ويل چې (اوس)

اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ۝٩٦ فَمَا اسْطَاعُوْٓا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا

چې وا يې ړوم | په هغه | ويلې شوې تانبه | پس وس نه شو لرلی دوی | د هغه د پاسه د راختلو | او وس نه وو د دوی

راله ويلې شوې تانبه راوړئ. چې (د پاسه) يې پرې واچوم نو هغوی (ياجوج ماجوج) نه خو د هغه د پاسه

لَهٗ نَقْبًا ۝٩٧ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ۚ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّيْ

په هغه کښې | د سورې کولو | ذوالقرنين وويل | دا | رحمت دے | زما د رب | پس هر کله چې راشي | وعده | زما د رب

راختلی شول او نه يې کښې سورې کولې شو. ذوالقرنين وويل چې دا (هم) زما د رب يو رحمت دے نو هر کله چې زما د رب مقرره نېټه

جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا ۝٩٨ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ

نو هغه به کړي دا | هواره | او ده وعده | زما د رب | د بنشتينې | او پرېږدو به مونږ | ځينې له دوی نه

راورسيږي نو دا (مضبوط ديوال) به (هم) وران کړي او زما د رب وعده برحقه ده او په هغه ورځ به مونږ دوی داسې

يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنٰهُمْ جَمْعًا ۝٩٩

په دغه ورځ | چې موجونه به وهي | په ځينو کښې | او پوک به ووهلی شي | په شپېلۍ کښې | بيا به مونږ جمع کړو دوی | ټول

پرېږدو لکه چې په يو بل کښې به ورننوځي او شپېلۍ به پوک ووهلی شي ، نو بيا به ټول را يو ځای کړو .

وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ عَرْضَا ۝١٠٠ الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ

او وړاندې به راولو | دوزخ | په دغه ورځ | د کافرانو | بالکل مخامخ | هغه چا ته چې | وې | سترګې د هغوی

او په هغه ورځ به دوزخ هغه کافرانو ته ور مخکښې کړو ، چې د هغوی په سترګو باندې زما د ياد د لو

فِيْ غِطَآءٍ عَنْ ذِكْرِيْ وَكَانُوْا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ۝١٠١ اَفَحَسِبَ ع ١٢

په پرده کښې | له ذکر زمانه | او دوی طاقت نه لرلو | د اورېدو | پس آيا ګمان وکړو

په حقله پردې (غوړېږ) لې وې ، او هغوی د اورېدو طاقت نه لرلو . آيا بيا هم کافران دا

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ ۗ

کافرانو | چې ونيسي دوی | زما بندګان | زما نه سيوا | دوستان

خيال کوي چې ما د پرېږدي او زما بندګان د خپل ځان له کارساز جوړ کړي

اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ نُزُلًا ۝١٠٢ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ

بېشکه مونږ تيار کړے دے | دوزخ | د پاره د کافرانو | د ميلمستيا | ووايه | آيا زه وښايم تاسو ته

مونږ د کافرانو له دوزخ د ميلمستيا د پاره تيار ساتلے دے . (اے نبي !) ته ووايه چې آيا زه تاسو ته د

بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ۝١٠٣ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ

زيات نقصان موندونکي | په عملونو کښې | هغه خلق | چې برباد شول | کوششونه د هغوی | په ژوند کښې

هغه چا پته وښايم چې په خپل عمل کښې ډېر تاوانيان پاتې دي ؟ دا هغه کسان دي چې د هغوی کوششونه د دنيا په ژوند

الدُّنۡيَا وَهُمۡ يَحۡسَبُونَ اَنَّهُمۡ يُحۡسِنُوۡنَ صُنۡعًا ﴿۱۰۴﴾ اُولٰٓئِكَ
دَ دنيا | او دوى | گمان کوى | چه دوى | ښه کوى | کار | هم دا خلق دى
پيسے برباد شول او په دے گمان کښے پراته وو چه گنى هغوئ ډير ښه کارونه کوى ۔ دا هغه کسان دى

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ
کوم چه | انکار کړے وو | دَ آيتونو | دَ رب خپل | او دَ ده دَ ملاقات | پس ضائع شول | عملونه دَ دوى
چه دَ خپل رب دَ آيتونو او دَ هغه دَ ملاقات نه منکر وو ، نو ټول کارونه ئے عبث لاړل ۔

فَلَا نُقِيۡمُ لَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ وَزۡنًا ﴿۱۰۵﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ
پس مونږ به نه قائموو | دَ دوى دَ پاره | په ورځ دَ قيامت | وزن (عملونه) | دا | دَ دوى سزا به وى | دوزخ
او مونږ به ورله دَ قيامت په ورځ هيڅ وزن (اهميت) هم نه ورکوو ، دَ هغوئ سزا هم دغه دوزخ دے

بِمَا كَفَرُوۡا وَاتَّخَذُوۡۤا اٰيٰتِىۡ وَرُسُلِىۡ هُزُوًا ﴿۱۰۶﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ
په سبب دَ دے | چه دوى کفر وکړو | او ونيول دوى | زما آيتونه | او زما پيغمبران | په ټوقو | بيشکه | هغه خلق چه
ځکه چه هغوئ کفر کړے وو او زمونږ (دَ قدرت) په نخښو پورے او زمونږ په پيغمبرانو پورے ئے خندا ټوکے کړے وے ، بيشکه چا چه

اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنّٰتُ الۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ﴿۱۰۷﴾
ايمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل | نيک | وى به دوى دَ پاره | باغونه دَ فردوس | ځائے دَ ميلمستيا
ايمان راوړو او نيک کارونه ئے وکړل ، دَ هغوئ ميلمستيا له دَ فردوس باغونه تيار دى

خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا لَا يَبۡغُوۡنَ عَنۡهَا حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ قُلۡ لَّوۡ كَانَ
هميشه به وى | په هغے کښے | نه به غواړى دوى | له هغے نه | ځائے بدلول | ووايه | که چرے وے
چه هميشه به پکښے اوسيږى او هيچرے به دَ هغے نه بل ځوا ته وتل نه غواړى (اے پيغمبره!) که چرے زما دَ رب

الۡبَحۡرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّىۡ لَنَفِدَ الۡبَحۡرُ قَبۡلَ اَنۡ تَنۡفَدَ
سمندر | سياهى | خبرے دَ پاره دَ ليکلو | زما دَ رب | نو خامخا به ختم شى | سمندر | وړاندے له دے نه چه | ختمے شى
دَ خبرو (ليکلو) دَ پاره سمندر سياهى جوړه شى نو سمندر به ختم شى له دے نه وړاندے چه زما دَ رب خبرے

كَلِمٰتُ رَبِّىۡ وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهٖ مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾ قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ
خبرے | زما دَ رب | او اگر که | مونږ راوړو | په شان دَ دے | بل (سمندر) مدد دَ پاره | ووايه | بيشکه زه خو يو انسان يم
ختمے شى اگر چه هم دا سے يو بل سمندر دَ دے دَ مدد دَ پاره مونږ راولو ، ورته ووفرمايه چه زه خو بس ستاسو

مِّثۡلُكُمۡ يُوۡحٰٓى اِلَىَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنۡ كَانَ يَرۡجُوۡا لِقَآءَ
په شان ستاسو وحى کولے شى | زما طرف ته | بيشکه | ستاسو معبود | هم يو معبود دے | پس څوک چه | اُميد لرى | دَ ملاقات
غونږے يو بشر يم ماله خو دا وحى راځى چه ستاسو معبود بس يو معبود دے نو څوک چه دَ خپل رب سره دَ ملاقات

رَبِّهٖ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾
دَ خپل رب سره | نو هغه له کول پکار دى | عمل | نيک | او شريک دِ نه نيسى | په عبادت کښے | دَ رب خپل | هيڅوک ۔
آرزومند وى نو پکار دى چه نيک کارونه کوى او دَ خپل رب په عبادت کښے دِ بل هيڅوک نه شريکوى ۔

ع ۱۲ / ۱۲

سُوْرَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة مریم په مکه کښې نازل شوې او په | (شروع) د الله په نوم سره چه ډېر مهربان او ډېر زیات رحم کوونکې دے | دے کښې ۹۸ آیتونه او شپږ رکوع دي

د الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان او ډېر زیات رحم خاوند دے

كٓهٰيٰعٓصٓ ۝١ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ۝٢ اِذْ نَادٰى

کاف. ها. یا. ع. ص | (دا) ذکر دے | د رحمت | ستا د رب | په خپل بنده | زکریا باندې | هر کله چه ده آواز وکړو

کاف. ها. یا. ع. ص (دا ستا د رب د هغه رحمت ذکر دے کوم چه هغه په خپل بنده زکریا باندې فرمائیلے دے، هر کله چه هغه

رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ۝٣ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ

خپل رب ته | په دُعا | پټ سره | ده ووئیل | اے زما ربه | بیشکه کمزورې شوې دي | هډوکی | زما

خپل رب ته پټ آواز د کړو (او) وے وئیل چه اے زما ربه! زما د بدن هډوکی کمزورې شوی دی، او

وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ۝٤

او سپین شو | سر (زما) | د بوډا والی نه | او نه وم زه | په دُعا کښې تا ته | اے زما | بے نوا

او سر مې د بوډا والی په وجه سپین شو، او اے زما ربه! زه تا نه په خواست کولو کښې هیڅ کله نامراده پاتې شوې نه یم

وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ

او بیشکه زه | ویرېږم | له خپلو وارثانو نه | وروستو له خپل ځان نه | او ده | زما ښځه

او زه د خپل ځان نه وروستو د خپلو وارثانو نه ویرېږم، او زما ښځه شنډه

عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۝٥ يَّرِثُنِيْ وَيَرِثُ

شنډه | پس راکړه | ما ته | له خپل طرف نه | یو وارث | چه وارث وی زما | او وارث وی

ده، نو ماله د خپل طرف نه یو وارث راکړه چه زما او د یعقوب علیه السلام

مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ۝٦ يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا نُبَشِّرُكَ

د اولاد د یعقوب | او کړه دے | اے زما ربه! | غوره | اے زکریا! | بیشکه موږ زیرے درکوو تا ته

د خاندان وارث وی او اے زما ربه! هغه خپل غوره بنده جوړ کړه. (الله و فرمائیل) اے زکریا! موږ تا ته د یو

بِغُلٰمِ ِۨ اسْمُهٗ يَحْيٰى ۙ لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ۝٧ قَالَ

د یو هلک | چه نوم به د هغه | یحیٰی وی | نه دے جوړ کړے موږ | د ده | له دے نه وړاندې | هم نامه | ده ووئیل

هلک زیرے درکوو چه د هغه نوم به یحیٰی وی، موږ د هغه نه وړاندې هیڅوک د هغه په نوم پیدا کړے نه دے. زکریا ووئیل

رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا وَّقَدْ بَلَغْتُ

اے زما ربه! | څنګه به وی | زما هلک | او ده | زما ښځه | شنډه | او بیشکه زه رسیدلے یم

چه اے زما ربه! زما به هلک څنګه پیدا شی هر کله چه زما ښځه شنډه ده، او زه د بوډا والی آخری

مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ۝٨ قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ

د بوډا والی | آخری حد ته | (فرښته) ووئیل | هم دغه شان | فرمائیلی دی | ستا رب | دا کار په ما آسان دے

حد ته رسیدلے یم، فرښتې ووئیل هم دغه شان به کیږی، ستا رب فرمائیلی دی چه دا خبره ماته ډېره آسانه ده

وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ۝٩ قَالَ رَبِّ

او بیشکه ما پیدا کړے یې ته | له دے نه وړاندې | او ته نه وے | هیڅ څیز | وویل دهٔ | اے ربه زما

او ما له دے نه وړاندې ته هم پیدا کړے وے او ته هیڅ هم نهٔ وے ، وے ویل اے زما ربه!

اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ

مقرر کړه | ما دَ پاره | څهٔ نخښه | وے فرمائیل | ستا نخښه (داده) | چه ته به خبرې نهٔ کوے | خلقو سره | درے | شپې

ما دَ پاره څهٔ نخښه مقرر کړه . وے فرمائیل ستا نخښه داده چه درے شپې ورځې به دَ خلقو سره خبرې اترې

سَوِيًّا ۝١٠ فَخَرَجَ عَلٰي قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ اَنْ

صحیح سالم یا مسلسل | پس هغه راووتلو | قوم خپل ته | له محراب نه | بیا اشاره ئې وکړه | دَ دوی طرف ته | چه

نهٔ شې کولے سره دَ دې چه روغ جوړ به یې . پس هغه دَ محراب نه راووتلو او خپل قوم ته راغے نو هغوی ته ئې اشاره وکړه

سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ۝١١ يٰيَحْيٰى خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ۭ وَاٰتَيْنٰهُ

پاکی بیانوئ | سحر | او ماښام | اے یحیٰی | ونیسه | کتاب | په کلکه | او ورکړو مونږ دوی ته

چه سحر ماښام (دَ الله) پاکی بیانوئ (بیا مونږ دوئیل چه) اے یحیٰی! دا کتاب ټینګ ونیسه او مونږ هغهٔ له

الْحُكْمَ صَبِيًّا ۝١٢ وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ۭ وَكَانَ تَقِيًّا ۝١٣

حکمت | په وړوکوالی کښې | او رحمدلی | زمونږ له طرف | او پاکیزګی | او وو | پرهیزګاره

په وړوکوالی کښې پوهه ورکړے وه او دَ خپل طرف نه مو ورته رحمدلی او پاکیزګی ورکړے وه او هغه ډیر پرهیزګاره وو

وَّبَرًّۢا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا ۝١٤ وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ

او نیکی کوونکے | دَ خپل پلار او مور سره | او نهٔ وو | سرکش | نافرمانه | او سلام دې وی | په ده

او دَ خپل مور پلار په حق کښې ډیر نیک وو او سرکش او نافرمانه نهٔ وو - او په هغهٔ دې سلام دی په کومه ورځ

يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ۝١٥ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ

په کومه ورځ چه هغه پیدا شو | او په کومه ورځ چه به هغه مړ شي | او په کومه ورځ چه به راپاڅولے شي ژوندے | او ذکر وکړه | په کتاب کښې

چه پیدا شو او په کومه ورځ چه به مړ شي او په کومه ورځ چه به دوباره ژوندے راپاڅولے شي او (اے نبی!) کتاب (یعنې

ع٥

مَرْيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ۝١٦ۙ فَاتَّخَذَتْ

دَ مریم | هرکله چه هغه جدا شوه | له خپل کوروالو نه | په یو ځائے کښې | نمرخاته طرف ته | بیا ئے واچوله

قرآن) کښې دَ مریم هم ذکر وکړه کله چه هغه دَ کوروالو نه جدا شو دَ نمرخاته اړخ یو مکان ته لاړه ، نو دَ خلقو دَ مخې

وقف لازم

مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا ۣ فَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهَا رُوْحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا

دَ دوی طرف ته | پرده | بیا ولیږله مونږ | دَ هغې طرفته | خپله (روح) فرښته | پس هغه جوړ شو | دَ هغې په وړاندې

نه ئې پرده وکړه ، نو مونږ ورته خپله خاص فرښته ولیږله چه دَ هغې په وړاندې دَ سم دم

بَشَرًا سَوِيًّا ۝١٧ قَالَتْ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ

یو انسان | دَ پوره اندامونو | هغې ووئیل | بیشکه زهٔ پناه غواړم | دَ رحمٰن | له تا نه | که چیرے ته یې

بنیادم په شان ښکاره شوه ، هغې ورته ووئیل چه زهٔ تا نه دَ رحمٰن (په نامه) پناه غواړم که ته دَ خدائے نه

تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ ۖ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾

پرهیزګار | ده وویل | بېشکه چه زه | رالېږلے شوے یم | ستا د رب | چه درکړم | تا ته | یو هلک | پاکیزه

ویرېږے ، فرښتے وویل چه زهٔ ستا د رب رالېږلے شوے فرښته یم چه زهٔ تا ته یو پاکیزه هلک درکړم

قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّ لَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ وَّلَمْ اَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾

هغے وویل | څنګه به وشی | زما | هلک | او نهٔ دے لاس راوړے ما له | چا بنیادم | او نهٔ یم زهٔ | بدکاره

هغے وویل چه زما لا څنګه هلک کیدے شی؟ حال دا دے چه نهٔ راله چا بنیادم لاس راوړے دے او نهٔ زهٔ بدکاره یم

قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ وَلِنَجْعَلَهٗٓ اٰيَةً

ده وویل | هم دغسے به کیږی | ویل ئیل | ستا رب | چه دا ما ته | آسانه ده | او چه موږ جوړ کړو هغه | یوه نخښه

فرښتے وویل چه دغسے به کیږی ستا رب فرمائیلی دی دا کار ما ته ډیر آسان دے او دا ځکه چه موږ دا خلقو د پاره

لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتْهُ

خلقو د پاره | او رحمت | د خپل طرف نه | او دے دا | یو کار | فیصله شوے | پس دا حامله شوه په ده

یوه نخښه او (د ذریعه د) رحمت جوړه کړو او دا یوه فیصله شوے خبره ده . نو د هغے کیږده شوه نو د

فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ اِلٰى

پس هغه جدا اکښیناسته | د ده سره | یو ځائے ته | لرے | پس راوستله دا | درد د لنګون | طرف ته

خپل (حمل) سره یو لرے ځائے ته لاړه . نو د زیږون دردونو د قجورے یوے ونے ته

جِذْعِ النَّخْلَةِ ۚ قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ

د تنے | د قجورے | دے وویل | اے کاش! زهٔ | مړه وے | وړاندے له دے نه | او وے زهٔ

راوستله (او) هغے وویل چه هائے افسوس! کهٔ زهٔ د دے نه مخکښ مړه شوے او هیره شوې

نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِيْ قَدْ جَعَلَ

هیره له زړهٔ و نه تلے | پس آواز و کړو دے ته | د دے د لاندے طرف نه | چه غم مهٔ کوه | بېشکه پیدا کړے دے

شوے وے . بیا (فرښتے) ورته د لاندے اړخ نه آواز و کړو چه هیڅ غم مهٔ کوه ، ستا رب ستا د پښو لاندې

رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّيْٓ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ

ستا رب | ستا د لاندے | یو چینه | او وخوزوه | خپل طرف ته | تنه | د قجورے | چه دا وغورزوی

یوه چینه راپیدا کړے ده . او د قجورے دا بوټے خپل ځان ته را وخوځوه ، د دے نه به درته

عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ فَاِمَّا

په تا | قجورے | تازه تازه | بیا خوره | او څښه | او یخے ساته | سترګے | پس که چرے

تازه قجورے را وغورزیږی ، نو ته خوره او څښه او خپلے سترګے (د خوښئ په دیدن) یخوه او که چرته یو

تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا ۙ فَقُوْلِيْٓ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ

و وینے ته | له بنیادمو نه څوک | نو وو ایه | بېشکه ما | نذر منلے دے | د رحمان د پاره

بنیادم و وینے . نو (په اشارت) ورته ووایه چه ما د رحمن (خدائے) په نامه د روژے نذر

صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا

یوه روژه | پس هیڅوک کله به خبرې ونه کړم | نن ورځ | د څه انسان سره | بیا دې راوړه | هغه | خپل قوم ته

منلے دے. نو زۀ نن د هیچا بنیادم سره خبرې اترې نه کوم، بیا هغه ماشوم په غیږ کښې واخستو او خپل قوم

تَحْمِلُهُ ۖ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾

اوچت کړے | دوی ووئیل | اے مریم! | بیشکه | تا کړے دے | یو کار | ډیر بد

ته ورغله. هغوی ورته ووئیل چه اے مریم! تا ډیر بد کار کړے دے.

يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾

اے خور | د هارون | نۀ وو | ستا پلار | سړے بد | او نۀ وه | ستا مور | بدکاره

اے د هارون خورے! ستا پلار څۀ خراب سړے نۀ وو او نۀ ستا مور بدکاره وه.

فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾

نو اشاره وکړه دې | د دۀ طرف ته | دوی ووئیل | څنګه خبرې وکړو موږ | د هغۀ سره چه وی په زانګو کښې | ماشوم

په دې باندې مریمې د ماشوم طرف ته اشاره وکړه. هغوی ووئیل چه موږ په زانګو کښې پروت ماشوم سره څنګه خبرې وکړو

قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِي

ووئیل دۀ | بیشکه زۀ | بنده یم د الله | راکړے دے دۀ ماته | کتاب | او دۀ جوړ کړے یم زۀ | نبی | او دۀ جوړ کړے یم زۀ

عیسیٰ ووئیل بیشکه زۀ د الله تعالیٰ بنده یم هغۀ ماله کتاب راکړے دے او زۀ ئے نبی جوړ کړے یم او زۀ ئے برکتی

مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنْتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا

برکت والا | کوم ځائے | چه زۀ یم | او دۀ وصیت کړے دے ماته | د مونځ | او د زکوٰة | تر څو پورې

کړے یم په هر ځائے کښې چه زۀ یم او هغۀ ماته د مونځ د کولو او د زکوٰة د ورکولو حکم راکړے دے تر څو پورې

دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾

چه یم | ژوندے | او ښۀ سلوک کوونکے | د خپل مور سره | او دۀ نۀ یم جوړ کړے زۀ | جابر | بدبخت

چه ژوندے یم او زۀ ئے د خپلې مور خدمت ګزار جوړ کړے یم او سرکش او بدبخت ئے نۀ یم پیدا کړے.

وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾

او سلام دے | په ما باندې | په کومه ورځ چه زۀ پیدا شوم | او په کومه ورځ چه به زۀ مرم | او په کومه ورځ چه به زۀ راپورته کړے شم | ژوندے

او په ما باندې سلام دے په کومه ورځ چه زۀ پیدا شوے یم او په کومه ورځ چه به زۀ مرم او په کومه ورځ چه به زۀ بیا ژوندے راپاڅولے

ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾

دا دے | عیسیٰ ځوئے د مریم | (دا دۀ) خبره | رښتینې | په کومه کښې چه | دوی شک کوی

شم. دا دے عیسیٰ ابن مریم، دا هغه رښتینې خبره ده په کومه کښې چه خلق شک کوی.

مَا كَانَ لِلَّهِ أَنْ يَتَّخِذَ مِنْ وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا

نۀ دے مناسب | الله دپاره | چه دے ونیسی | څوک ځوئے | دے پاک دے | هر کله چه دے فیصله کوی | د یو کار

د الله تعالیٰ دا شان نۀ دے چه هغه د ځان له اولاد ونیسی، هغه بالکل پاک دے، هغه چه د یو کار فیصله وکړی

فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۳۵﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ

نو بیشکه | چه وائي | هغهٔ ته | شه | نو هغه شي | او بیشکه الله | زما رب | او ستاسو رب دے

نو بس دومره قدر ورته ووائي چه "او شه" نو هغه کار اوشي . او بیشکه چه الله زما هم رب دے او ستاسو هم رب دے

فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۳۶﴾ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ

پس د هغهٔ عبادت وکړئ | هم دا دے | لاره | نیغه | بیا اختلاف وکړو | جماعتونو

نو بوازے د هغهٔ عبادت کوئ هم دغه (د دین) نیغه لاره ده. بیا د اهل کتابو جماعتونو د یو بل سره

مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۳۷﴾

په خپل مینځ کښے | پس خرابي ده | هغو خلقو د پاره | چه کافران دي | د حاضرئ نه | د ورځے لوئے .

اختلاف پیدا کړو نو هغو خلقو د پاره افسوس دے چه (د قیامت) په لویه ورځ د الله تعالیٰ په وړاندے د دین د انکار کولو

اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ ۙ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْيَوْمَ

ښه به واوري | او ښهٔ به وویني | په کومه ورځ | چه دوی راشي مونږ ته | لیکن | دا ظالمان | نن ورځ

په کومه ورځ چه به دوی مونږ ته راشي څومره ښهٔ آوریدونکي او لیدونکي به وي . لیکن نن ورځ ظالمان په ښکاره

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ

په ګمراهئ ښکاره کښے دي | او ووېروه دوی | له ورځے د پښېمانتیا نه | هر کله چه فیصله وکړے شي

ګمراهئ کښے دي . او ته "دوئ د حسرت د ورځے (د عذاب) نه ووېروه | څهٔ وخت چه به آخري فیصله

الْاَمْرُ ۘ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ وَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّا نَحْنُ

د کار | او دوی دي | په غفلت کښے | او دوی | ایمان نهٔ راوړي | بیشکه مونږ به

صادره کړے شي (لیکن) دوئ په غفلت کښے پراته دي او ایمان نهٔ راوړي ، بیشکه هم مونږ د

نَرِثُ الْاَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿۴۰﴾ ع وَاذْكُرْ

وارث شو | د زمکے | او د هغه چا | چه په زمکه کښے دي | او زمونږ طرف ته | به دوی راګرځولے شي | او یاد کړه

زمکے او په دے باند د اوسیدونکو وارث یو او هم زمونږ طرف ته به دوی راګرځولے شي . او ته په دے کتاب

فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ ۬ؕ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿۴۱﴾ اِذْ قَالَ

په کتاب کښے | ابراهیم | بیشکه هغه | وو | رښتینے | نبي | هر کله چه هغه ووئیل

کښے د ابراهیم (علیه السلام) ذکر وکړه ، بیشکه هغه ډیر رښتینے نبي وو ، هر کله چه هغهٔ پلار ته

لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ

خپل پلار ته | اے زما پلاره | ته ولے عبادت کوے | د هغه څه | چه نهٔ آوري | او نهٔ ویني | او نهٔ دفع کوي | له تا نه

ووئیل چه اے زما بابا ! ته ولے د داسے څیز عبادت کوے چه نهٔ آوري او نهٔ ویني او نهٔ ستا په کار راځي

شَيْـًٔا ﴿۴۲﴾ يٰۤاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ

څهٔ څیز | اے زما پلاره ! | بیشکه | ما ته راغلے دے | هغه علم | چه نهٔ دے راغلے تا ته

شي . اے زما پلاره ! بیشکه ما ته هغه علم حاصل دے چه هغه تا ته نصیب شوے نهٔ دے

فَاتَّبِعْنِیْۤ اَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِیًّا ۴۳ یٰۤاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّیْطٰنَ

پس ته پیروي وکړه زما | چه ونښایم تاته | لاره | سمه | اے زما پلاره! | عبادت مه کوه | د شیطان

نو زما پیروي وکړه زه به درته سمه لاره وښایم. اے زما پلاره! د شیطان عبادت مه کوه

اِنَّ الشَّیْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِیًّا ۴۴ یٰۤاَبَتِ اِنِّیْۤ

بیشکه | شیطان | دے | د رحمان | نافرمانه | اے زما پلاره! | بیشکه زه

بیشکه شیطان د رحمان نافرمان دے. اے زما پلاره! ماسره دا

اَخَافُ اَنْ یَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ

ویریږم | چه | ویه رسیږي تاته | عذاب | د رحمٰن له طرفه | پس شے به ته

ویره ده چه چرته په تا باندې د رحمٰن د اړخ نه عذاب رانه شي ، نو ته به د شیطان

لِلشَّیْطٰنِ وَلِیًّا ۴۵ قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِیْ یٰۤاِبْرٰهِیْمُ

د شیطان | ملګرے | ده وویل | آیا اوړیدلے یې ته | زما د معبودانو نه | اے ابراهیم!

ملګرے (پاته) شے. (آزر ورته) وویل چه بیا ابراهیم! ګنې ته زما د معبودانو نه اوړیدلے یې؟

لَىِٕنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِیْ مَلِیًّا ۴۶ قَالَ سَلٰمٌ

که چرے منع نه شوے ته | نو خامخا به زه سنګسار کړم تا | او لرې شه له مانه | ډیره موده | ده وویل | سلام دې

کړته (د خپلو خبرو نه) منع نه شوے نو زه به دې سنګسار کړم او زما د مخه نه همیشه د پاره په ډډه شه. ابراهیم وویل

عَلَیْكَ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّیْ اِنَّهٗ كَانَ بِیْ حَفِیًّا ۴۷ وَاَعْتَزِلُكُمْ

په تا باندې | زه به بخښنه غواړم | ستا د پاره | د خپل رب نه | بیشکه هغه | دے په ما باندې | مهربان | او په ډډه کیږم زه له تاسو

په تا دې سلام وي، زه به ستا د پاره د خپل رب نه بخښنه غواړم بیشکه هغه په ما ډیر مهربان دے. او زه له تاسو نه او

وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّیْ عَسٰۤی اَلَّاۤ اَكُوْنَ

او له هغه څه نه | چه بلئ یې تاسو | د الله نه سیوا | او زه بلم | خپل رب | امید دے | چه نه به یم زه

کوم چه تاسو د الله تعالیٰ نه سیوا بلئ د هغې نه په ډډه کیږم او زه به د خپل رب بلنه کوم. امید دے چه زه به

بِدُعَآءِ رَبِّیْ شَقِیًّا ۴۸ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا یَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ

په بللو د رب خپل | محروم | بیا هر کله چه | ډډه وکړه ده له دوئ نه | او له هغه څه نه | چه دوئ یې عبادت کولو | سیوا

د خپل رب نه په خواست کولو کښې محروم نه پاتې کیږم. بیا چه ابراهیم د هغه خلقو نه او د هغوئ د معبودانو نه په

اللّٰهِ وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِیًّا ۴۹

د الله نه | نو ورکړو موږ | ده ته | اسحٰق | او یعقوب | او هر یو | موږ جوړ کړو | نبي

ډډه شو نو موږ ورله (ځوئ) اسحٰق او (نمسے) یعقوب ورکړل او په دواړو کښې مو هر یو نبي جوړ کړو

وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ

او موږ ورکړل | دوی ته | له خپل رحمت | او کړو موږ | د دوی | ذکر خیر

او موږ په دوئ باندې خپل رحمت وفرمائیلو او د دوئ ذکر خیر مو ډیر اوچت

عَلِيًّا ﴿٥٠﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰىٓ ۙ اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا

ډير اوچت | او ياد كړه | په كتاب كښې | موسیٰ | بيشكه دے | وو | خاص بنده

كړے دے. او ته په دے كتاب كښې د موسیٰؑ (هم) ذكر وكړه ، بيشكه هغه د الله تعالیٰ خاص بنده

وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥١﴾ وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ

او وو | رالېږلے شوے | پيغمبر | او مونږ آواز وكړو ده ته | د طور د ښي طرف نه

او رسول او نبي وو . او مونږ هغهٔ ته د كوهِ طور د ښي طرف نه آواز وركړو

وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿٥٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ

او نزدے كړو مونږ دے | د راز د خبرو د پاره | او عطا كړو مونږ | ده ته | له خپل رحمت نه | د دهٔ ورور

او هغه مو ځان ته د رازدارۍ د خبرو كولو د پاره نزدے كړو ، او هغهٔ ته مو د خپلے مهربانۍ په وجه د هغهٔ ورور هارونؑ

هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿٥٣﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ ۙ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ

هارون | نبي | او ياد كړه | په كتاب كښې | اسماعيلؑ | بيشكه دے | وو | رښتينے

د نبي په حيثيت عطا كړو . او ته په دے كتاب كښې د اسماعيلؑ ذكر (هم) وكړه . بيشكه چه هغه د وعدے (ډير)

الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ

د وعدے | او وو | رالېږلے شوے | نبي | او دهٔ به حكم كولو | د خپل كور خلقو ته | د مانځهٔ

رښتينے وو او رسول او نبي هم وو . او هغهٔ به د خپل كور خلقو ته د مونځ ادا كولو او د زكوٰة د

وَالزَّكٰوةِ ۠ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ

او د زكوٰة | او وو | په نزد د رب خپل | غوره | او ياد كړه | په كتاب كښې

وركولو حكم كولو او د خپل رب په نزد ډير غوره وو . او ته په دے كتاب كښې د ادريسؑ ذكر (هم)

اِدْرِيْسَ ۙ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿٥٦﴾ وَّرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾

ادريسؑ | بيشكه دے | وو | رښتينے | نبي | او اوچت كړو مونږ دے | مكان اوچت ته

وكړه ، بيشكه چه هغه ډير رښتينے نبي وو . او مونږ ډيرے اوچتے مرتبے ته ورسولو .

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ

هم دا چله | هغه خلق دي چه | انعام وكړو الله | په دوي باندي | له پيغمبرانو نه | له اولاد

دا هغه نبيان دي په كوم چه الله تعالیٰ له پيغمبرانو نه انعام وكړو (يعني) اولاد د

اٰدَمَ ۙ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۙ وَّمِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ

د آدم نه | او له هغه چانه | چه سواره كړل مونږ | د نوحؑ سره | او له اولاد نه | د ابراهيمؑ

آدمؑ نه او له هغه چانه كوم چه مونږ نوحؑ سره (په كشتۍ كښې) سواره كړل او څخه د ابراهيم او د يعقوب عليهما السلام

وَاِسْرَآءِيْلَ ۙ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ؕ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ

او د يعقوبؑ | او له هغه چانه | چه هدايت ورته وكړو مونږ | او غوره كړو مونږ | كله چه لوستے شي | په دوي باندي | آيتونه

د نسل نه وو او (دا ټول) په هغه خلقو كښې شامل وو چه مونږ هدايت كړے وو او غوره كړي مو وو هر كله چه به د هغوي په وړاندې د رحمٰن

الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ﴿٥٨﴾ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ

دَ رحمٰن | نو دوی به پریوتل | سجده کوونکي | او ژړېدونکي | بیا جانشین شول | پس له دوی نه | نا اهل

آیتونه ولوستل شول نو په سجده به پریوتل او ژړېدل به. بیا د هغوی نه پس (ځینې) داسې نا اهل جانشین شول

اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾

چه ضائع ئې کړو | مونځ | او پیروي ئې وکړه | د خواهشاتو | پس زر به | دوی بیا مومي | (سزا د) ګمراهئ

چه مونځونه ئې ضائع کړل، او په خواهشاتو پسې روان شول، نو دوی به زر به د ګمراهئ سزا بیا مومي

اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ

مګر | چا چه | توبه وکړه | او ایمان ئې راوړو | او عمل ئې وکړو | نیک | پس هم دا خلق | به داخلیږي

سیوا د هغه چا نه کوم چه توبه وکړه او ایمان ئې راوړو او نیک عملونه ئې وکړل، دا خلق به جنت کښې

الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ﴿٦٠﴾ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِيْ وَعَدَ

په جنت کښې | او ظلم به نه کیږي په دوی | هیڅ | په باغونو کښې | د همیشه اوسیدو | هغه د کوم چه | وعده کړې ده

داخلیږي او په دوی به هیڅ ظلم نه شي کیدے. همیشه د پاره په داسې باغونو کښې د کوم وعده

الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ وَعْدُهٗ مَاْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ

رحمٰن | د خپلو بندګانو سره | غائبانه | بیشکه | ده | وعده د ده | راتلونکې | نه به اوري دوی

چه رحمٰن د خپلو بندګانو سره غائبانه کړې ده بیشکه د هغه وعده خامخا پوره کیدونکې ده. هلته به څه فضول

فِيْهَا لَغْوًا اِلَّا سَلٰمًا ؕ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿٦٢﴾

په هغې کښې | عبث خبرې | سیوا | د سلام نه | او دوی د پاره | د دوی رزق دے | په هغې کښې | سحر | او ماښام

خبره نه اوري خو بس سلام (به وي) او هغوئ ته به پکښې سحر ماښام روزي ورکولے شي

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾

دا | هغه جنت دے | د کوم چه به | مونږ وارثان جوړوو | له خپلو بندګانو نه | څوک چه | دي | پرهیزګاران

دا هغه جنت دے د کوم وارث چه به مونږ له خپلو بندګانو نه هغه څوک جوړوو کوم چه پرهیزګار وي

وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَا خَلْفَنَا

او مونږ نه نازلیږو | مګر په حکم | د رب ستا | هم د ده دي | څه چه زمونږ په وړاندې دي | او څه چه | زمونږ نه وروستو دي

او (فرښتو وویل) مونږ د خپل رب د حکم نه بغیر نه نازلیږو، هم د هغه دي څه چه زمونږ په وړاندې دي او څه چه زمونږ شاته دي

وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او څه چه | د دې په مینځ کښې دي | او نه دے | ستا رب | هیرونکے | رب دے | د آسمانونو | او د زمکې

او څه چه د دې په مینځ کښې دي او ستا رب (هیڅ خبره) هیرونکے نه دے. هغه د آسمانونو او د زمکې او څه چه

وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلْ تَعْلَمُ

او څه چه | د دې په مینځ کښې دي | پس عبادت وکړه د ده | او ټینګ ولاړ وسیږه | د هغه د عبادت د پاره | آیا تا ته معلوم دے

د دې په مینځ کښې دي د ټولو څیزونو رب دے پس د هغه عبادت کوه او هم د هغه په عبادت ټینګ ولاړ وسیږي آیا تا ته د هغه

ع ۱۵/۷

لَهٗ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ وَيَقُولُ الْاِنْسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ

دَ هغهٔ | هم نام | او وائي | انسان | چه آيا هر کله زهٔ مړ شم | نو بيا به زهٔ را وېستلے شم

څوک هم نام معلوم دے. او (کافر) انسان وائي چه آيا زهٔ هر کله مړ شم نو بيا به هم ژوندے (د قبر نه) را وېستے

حَيًّا ﴿٦٦﴾ اَوَلَا يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ يَكُ

ژوندے | آيا نهٔ يادوي | انسان | چه پيدا کړے مونږ دے | وړاندې له دے نه | او نهٔ وو دے

شم. آيا انسان ته ياد نهٔ دي چه له دے نه وړاندې مونږ دے پيدا کړو چه دے لا هيڅ څيز

شَيْئًا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيٰطِيْنَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ

هيڅ څيز | پس قسم دے د رب ستا | مونږ به ضرور جمع کړو دوی | او شيطانان | بيا | مونږ به ضرور حاضر کړو دوی

هم نه وو. نو ستا د رب قسم دے چه مونږ به دوئ او شيطانان ضرور را جمع کړو، بيا به د اتول د دوزخ نه چاپېره

حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ اَيُّهُمْ

چاپېره | د دوزخ نه | پرېوتلي په گونډو | بيا | خامخا به راجدا کړو مونږ | له هر يو اُمت نه | چه په دوی کښې

حاضر کړو چه په گونډو به (غورزيدلي) پراته وي. بيا به د هر يو ټولي نه هغه کسان بيل کړو چه د رحمٰن (خدائے) نه

اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ اَعْلَمُ بِالَّذِيْنَ هُمْ

ډېر زيات | د رحمان نه | سرکشي کونکے وو | بيا | هم مونږ | ښهٔ پېژنو | هغه خلق کوم چه

په سرکشئ کولو کښې د ټولو نه پيش پيش وو. بيا مونږ هغه هم ښهٔ پېژنو چه په دے کښې د

اَوْلٰى بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ

زيات قابل دي په دے کښې | د داخليدو | او نشته | په تاسو کښې څوک | مگر تيريدونکے دے په هغې | (دا) دے | ستا په رب باندې

داخليدو زيات قابل دي. او په تاسو کښې داسے هيڅوک نشته چه په هغې به نهٔ تيريږي دا ستا په رب باندې لازم

حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا

لازم | مقرر شوے | بيا به نجات ورکړو مونږ | هغه خلقو ته | چه پرهيزگار دي | او پرېږدو به ظالمان | په هغې کښې

خبره ده چه خامخا به پوره کيږي. بيا به مونږ هغه کسان بچ کړو چه پرهيزگاره دي او ظالمان به په کښې د ننه په گونډو

جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په گونډو غورزيدلي | او هر کله چه لوستلے شي | په دوی باندې | زمونږ آيتونه | واضح | نو وائي | هغه خلق | چه کافر دي

غورزيدلي پرېږدو. او هر کله چه دوئ ته زمونږ ښکاره ښکاره آيتونه لوستلے شي نو څوک چه کافران دي هغوي مؤمنانو

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ۙ اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾

هغه خلقو ته | چه ايمان لري | چه کوم يو فريق په دواړو کښې | غوره دے | په مرتبه کښې | او ډېر ښهٔ دے | د مجلس په لحاظ

ته وائي چه په (مونږ) دواړو فرقو کښې د چا ځائے بهتر دے او د چا مجلس ډېر ښائسته دے

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّرِءْيًا ﴿٧٤﴾

او څومره | مونږ هلاک کړل | له دوی نه وړاندې | قومونه | چه هغوئ بهتر وو | په ساز و سامان | او ښودنه کښې

او مونږ له دوی نه وړاندې ډېر امتونه هلاک کړل چه (د دوئ نه) په ساز و سامان او ظاهري شکل و صورت کښې ډېر ښهٔ وو.

قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ
ووایه | څوک چه وی | په ګمراهئ کښے | نو مهلت ورکوی | هغه ته | الله | ترېوے موده
(اے پیغمبره!) ته ووایه چه څوک په ګمراهئ کښے پراته دی نو رحمٰن (خدائے) هغوئی له پوره پوره مهلت ورکوی

حَتّٰىٓ اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ ؕ
ترڅو چه | هرکله چه ووینی دوئ | هغه څه چه | دوی سره ئے وعده کولے شوه | یا | عذاب | او یا | قیامت
ترڅو چه د کوم څیز د دوی سره وعده شوے ده هغه په خپلو سترګو ووینی یا (د دنیا) عذاب او یا قیامت

فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ﴿۷۵﴾
نو دوی ته به معلوم شی | چه څوک دے هغه | چه زیات خراب دے | د مکان په لحاظ سره | او زیات کمزورے دی | د لښکر په لحاظ سره
نو دا به ورته معلومه شی چه د چا ځائے خراب دے او د چا لښکرے کمزورے دی؟

وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ؕ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ
او زیاتوی الله | کومو خلقو چه | هدایت حاصل کړو | په هدایت کښے | او باقی پاتے شوے | نیکئ
او کومو خلقو چه هدایت حاصل کړو الله تعالیٰ هغوی ته نور زیات هدایت ورکوی او نیکیانے کومے چه باقی پاتے کیدونکے

خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿۷۶﴾ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ
بهتر دی | په نزد د رب ستا | په ثواب کښے | او بهتر دی | په لحاظ د انجام | پس آیا تا ولیدو | هغه کس چه
دی هغه ستا د رب په نزد د ثواب او د انجام په اعتبار سره بهتر دی۔ آیا تا هغه سړے لیدلے دے چه

كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿۷۷﴾ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ
انکار ئے وکړو | زمونږ د آیتونو نه | او دۀ ووئیل | چه ماته به خامخا ورکولے شی | مال | او اولاد | آیا دے خبر شوے دے | په غیبو
چه زمونږ د حکمونو نه ئے انکار وکړو او دا ئے چه ماته به (په آخرت کښے هم) مال او اولاد ورکولے شی. آیا دۀ ته د غیبو خبر

اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۷۸﴾ كَلَّا ؕ سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ وَنَمُدُّ
یا | دۀ اخستے ده | د رحمٰن نه | څه وعده | هیڅ کله داسے نه ده | او مونږ به ئے لیکو | هغه څه چه دا وائی | او مونږ به زیاتوو
معلوم شوے دے یا دۀ د رحمٰن نه څه وعده اخستے ده؟ نا داسے نه ده، څه چه دے وائی مونږ هغه لیکو او د دۀ د

لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿۷۹﴾ وَّنَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا ﴿۸۰﴾
دۀ د پاره | عذاب | اوږد | او مونږ به وارثان یو | د هغه څه چه دے ئے وائی | او را به شی دے مونږ ته | یوازے
پاره به عذاب زیاتوو۔ او د دۀ د ټولے خبرے به هم مونږ وارثان پاتے کیږو او دے به مونږ ته یوازے راشی

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ﴿۸۱﴾ كَلَّا ؕ سَيَكْفُرُوْنَ
او دوی نیولی دی | د الله نه سیوا | نور معبودان | چه وی دوی | دوی د پاره | سبب د عزت | هیڅکله نه! | انکار به وکړی دوی
او دوی د الله تعالیٰ نه سیوا ځان له نور معبودان نیولی دی چه د دوی د پاره د عزت باعث وی۔ هیڅکله نه! دوی به د

بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿۸۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّآ اَرْسَلْنَا
د دوی د عبادت نه | او شی به هغوی | د دوی | مخالف | آیا تا نه دی کتلی؟ | چه بیشکه مونږ رالیږلی دی
د دوی د عبادت نه انکار وکړی او د دوی مخالف به شی (اے پیغمبره!) آیا تا ته نه ده معلومه چه مونږ

۵ ع ۸

الشَّيٰطِيْنَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿۸۳﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ

شیطانان | په کافرانو باندې | چه راپاروي دوی | په راپارولو سره | پس ته تلوار مه کوه | په دوی

شیطانان په کافرانو باندې ورپریښي دي چه هغوئ (کفر او گناه) ته راپاروي نو ته د دوی په حقله تلوار مه کوه

اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿۸۴﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ

بیشکه مونږ شمیرو | دوی د پاره | شمیر | په کومه ورځ چه | مونږ جمع کړو | پرهیزګاران | د رحمٰن طرف ته

مونږ پخپله د دوئ کارونه شمیرو ، په کومه ورځ چه مونږ ټول پرهیزګاران خلق د رحمٰن (خدائے)

وَفْدًا ﴿۸۵﴾ وَّنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾ لَا يَمْلِكُوْنَ

میلمانه جوړ کړی | او وبه شړو | ګناهګاران | د دوزخ طرف ته | تږي شوي | دوی به اختیار نه لري

میلمانه کړو جمع کړو . او مجرمان د دوزخ غاړے ته (اوږي) تږي وشړو . د سفارش اختیار به هیڅ

الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾ وَقَالُوا

د شفاعت | سیوا د هغه چا نه | چه اخستے وي | د رحمٰن نه | وعده | او دوی وویل

ته نه وي ، بغیر د هغه چا نه چه د رحمٰن (خدائے) نه ئے اجازت اخستے وي . او (داخلق) وائي

اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا اِدًّا ﴿۸۹﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

نیولے دے | رحمٰن | ځوئے | بیشکه راوړو تاسو | څیز | بد | نزدے ده چه اسمانونه

چه رحمٰن (خدائے) ځان له اولاد نیولے دے . دا تاسو ډیره خرابه خبره کړے ده . نزدے ده چه په دے وینا

يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾

وچوی | له دے (خبرے) نه | او وشلیږي | زمکه | او راوغورځیږي | غرونه | ټوټه ټوټه .

باندې آسمانونه وشلیږي او زمکه پرے ټوټے ټوټے شي او غرونه راوغورځیږي او ریزه ریزه شي .

اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿۹۱﴾ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾

چه دوی دعوی وکړه | د رحمٰن د پاره | د ځوئے | او نه دی مناسب | د رحمٰن د پاره | چه ونیسي | ځوئے

ځکه چه هغوئ د رحمان د پاره ځوئے مقرر کړے دے . حالانکه د رحمان د پاره مناسبه نه ده چه څوک ځوئے جوړ کړي

اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّا اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿۹۳﴾

ټول (مخلوق) چه دے | په آسمانونو کښے | او په زمکه (کښے) | مګر هغه به راشي | رحمٰن ته | د بنده په حیثیت

څومره څوک چه په آسمانونو او په زمکه کښے موجود دي هر یو به رحمٰن (خدائے) ته د بنده په حیثیت حاضریږي

لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ

بیشکه هغه احاطه کړے ده د دوئ | او د دوئ شمیر ئے کړے ده | په شمیرلو سره | او له دوی نه هر یو | به راشي د ده مخے ته

هغه دا ټول څیزونه احاطه کړي دي او بند ئے شمیرلي دي ، او هر یو به ورته د قیامت په

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

په ورځ د قیامت | یوازے | بیشکه کوم خلق چه | ایمان راوړي | او دوی عمل وکړو | نیک

ورځ ایکي یوازے حاضریږي . بیشکه چا چه ایمان راوړے دے او د نیکۍ کارونه ئے کړي دي

وقف لازم

وقف لازم

سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ

ویرژر به پیدا کړي | دوئ د پاره | رحمٰن | محبت | پس یقیناً | موږ دا آسان کړے دے | ستا په ژبه

رحمٰن (خدائے) به د هغوئ د پاره محبت پیدا کړي ۔ نو موږ دا (قرآن) ستا په ژبه څکه آسان کړے دے

لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾

چه ته زیرے ورکړې | په دے سره | پرهیزګارانو ته | او چه ته و ویروې | په دے سره | خلق | جګړه مار

چه ته د دے په ذریعه پرهیزګارانو ته زیرے ورکړے او د دے په ذریعه جګړه مار خلق وویروے ۔

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ

او څومره | هلاک کړل موږ | وړاندې له دوئ نه | قومونه | آیا | ته محسوسوے

او موږ د دے خلقو نه وړاندې څومره ډیر قومونه هلاک کړي دي ۔ نو آیا نن ته په هغوئ کښے

مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾

له دوی نه | څوک یو (هم) | یا ته آورې | د هغوئ | کمزوره غږ

څوک (باقي پاتې) وینې ۔ یا د هغوئ کمزوره غږ چرته آورے ۔

سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ خَمْسٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّثَمَانُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورۃ طٰهٰ په مکه کښے نازل شوې په | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ١٣٥ آیتونه او ٨ رکوع ګانې دي

شروع کوم د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

طٰهٰ ﴿١﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿٢﴾ اِلَّا تَذْكِرَةً

طٰهٰ | موږ نه دے نازل کړے | په تا باندې | دا قرآن | چه ته په تکلیف کښے پریوزې | مګر | نصیحت

موږ دا قرآن په تا باندې د دے د پاره نه دے نازل کړے چه ته د په تکلیف شے ۔ بلکه دا خو هغه چا ته یادګیرنه

لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿٣﴾ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿٤﴾

هغه چا ته | چه ویره کوي | نازل شوے دے | د هغه چا طرف نه | چه پیدا کړے ئے ده | زمکه | او اوچت آسمانونه

ده چه ویره کوي ۔ د هغه (الله) د طرف نه نازل شوے دے چه زمکه او اوچت آسمانونه ئے پیدا کړي دي

اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴿٥﴾ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

هغه ډیر مهربان | په عرش باندې | قائم دے | هم د ده دي | څه چه په آسمانونو کښے دي | او څه چه | په زمکه کښے دي

هغه رحمٰن (خدائے د حکومت) په عرش قائم دے ۔ هر څه د هغه دي څه چه په آسمانونو کښے دي او څه چه په زمکه

وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ﴿٦﴾ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ

او څه چه | د دے دواړو په مینځ کښے دي | او څه چه | دي لاندې د زمکے نه | او که چرے | ته په اوچت آواز وکړے | خبره

کښے دي او څه چه د دواړو په مینځ کښے دي او څه چه د زمکے نه لاندې پراته دي ۔ او که ته په زوره خبره وکړے نو

فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰى ﴿٧﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ

نو بیشکه هغه | پوهیږي | په پټه خبره | او په ډیره پټه خبره | هم الله دے | نشته د هیڅوک معبود | سوا د هغه نه | هم د هغه دي

هغه په پټو رازونو او ښه په پټو خبرو هم پوهیږي ۔ (هغه) الله دے د هغه نه سیوا بل معبود نشته هم د هغه

وقف لازم

الْأَسْمَاءُ الْحُسْنٰى ﴿٨﴾ وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿٩﴾ اِذْ رَا

هر کله چه ولیدٔ ده | د موسیٰ | خبر | راغلے ئے تاته | او آیا | ښه | نامے

ښه ښه نامے دی. او آیا تا ته د موسیٰ (علیه السلام) واقعه معلومه ده، هر کله چه هغهٔ

نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ

اُمید لرم | اور | لیدلے دے | بیشکه ما | تاسو ایسار شئ | خپل کور والا ته | نو وئے فرمائیل | اور

اور ولیدو نو خپل کور والا ته ئے وفرمائیل چه تاسو دلته ایسار شئ بیشکه ما اور لیدلے دے، شاید چه زهٔ

اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ﴿١٠﴾ فَلَمَّآ

پس هر کله چه | درک ښودونکے | په دغه اور | یا به زهٔ بیا مومم | یو څه شعله | له هغې نه | چرته به راوړم تاسو ته

ترے نه تاسو له یوه شعله راوړم یا د اور په خوا کښے د لارے درک ومومم. نو څه وخت چه

اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ﴿١١﴾ اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ اِنَّكَ

بیشکه ته | خپلے پیزارے | نو ته اوباسه | ستا رب یم | بیشکه زهٔ | اے موسیٰ! | نو آواز ورته وشو | هلته ورسیدو

هلته ورسیدو نو آواز ورته وشو چه اے موسیٰ! زهٔ ستا رب یم، نو ته خپلے پیزارے وباسه بیشکه چه ته په یو

بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾ وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ﴿١٣﴾

چه کوم وحی درته کیږی | پس واوره | ته غوره کړے یئ | او ما | د طویٰ (وادئ کښے) | په پاک میدان کښے یئ

پاکیزه میدان یعنی په طویٰ کښے (ولاړ) یئ. او ما ته غوره کړے یئ نو چه څه حکم درته کولے شی هغه واوره.

اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴿١٤﴾

زما د یاد د پاره | مونځ | او قائم کړه | پس عبادت کوه زما | بے له ما نه | نشته دے بل څوک معبود | رب یم | بیشکه زهٔ

بیشکه هم زهٔ ستا رب یم، زما نه سیوا ستا بل معبود نشته، نو زما عبادت کوه او زما د یاد (د پاره) مونځ نه کوه.

اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ

هر نفس ته | چه بدله ورکړے شی | زهٔ غواړم چه هغه پټ وساتم | راتلونکے دے | قیامت | بیشکه

بیشکه چه قیامت راتلونکے دے، زهٔ غواړم چه هغه پټ وساتم چه هر تن ته د خپلو کوششونو

بِمَا تَسْعٰى ﴿١٥﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ

او هغه روان وی | په دے | ایمان نه راوړی | څوک چه | د دے نه | پس منع نه کړی تا | د هغه څهٔ چه دے کوشش کوی

بدله ملاؤ شی، نو هغه څوک چه ایمان نهٔ لری او د خپلو خواهشاتو پیروی کوی چرته تا د دے (حقے لارے)

هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ﴿١٦﴾ وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ﴿١٧﴾ قَالَ

دهٔ ووئیل | اے موسیٰ! | ستا په ښی لاس کښے | او څهٔ دی دا؟ | پس هلاک به شے ته | خپلو خواهشاتو پسے

نه منع نه کړی کنی ته به هلاک شے. او اے موسیٰ! دا ستا په ښی لاس کښے څهٔ دی؟ دهٔ ووئیل

هِيَ عَصَايَ اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ وَلِيَ

او ما د پاره | خپلو چیلو ته | په دے | او زهٔ پاڼړے راڅنډم | په دے باندے | زهٔ تکیه کوم | دا زما امسا ده

چه دا زما امسا ده. زهٔ په دے باندے تکیه وهم. او خپلو چیلو د پاره په دے پاڼړے څنډم او د دے نه

فِيْهَا مَاٰرِبُ اُخْرٰى ⑱ قَالَ اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ⑲

په دے کښے | کاروونه دی | نور هم | الله وفرمائیل | وغورزوه دا | اے موسیٰ!

زهٔ نور هم ډیر کاروونه اخلم۔ (الله ورته) وفرمائیل چه دا وغورزوه اے موسیٰ!

فَاَلْقٰىهَا فَاِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ⑳ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ

پس دهٔ وغورزوله هغه | پس ناګهانه | هغه (شو) | مار (چه) منډے ئے وهلے | ده ئے فرمائیل | دا ونیسه | او مهٔ ویریږه

نو هغهٔ (امسا) وغورزوله نو هغه ناګهانه مارجوړ شو چه منډے ئے وهلے۔ ده ئے فرمائیل دا ونیسه او مهٔ ویریږه۔

سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا الْاُوْلٰى ㉑ وَاضْمُمْ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ

مونږ به ئے ګرځوو دا واپس کړو | هم په هغه حالت کښے | چه وړومبے وو | او ملاؤ کړه | خپل لاس | په خپل ترخ کښے | هغه به راوځی

مونږ به ئے دے له اوس بیا ډا اول په شان (امسا) کړو ، او ته خپل لاس په خپل ترخ کښے ورکړه هغه به بغیر

بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ اٰيَةً اُخْرٰى ㉒ لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ㉓

روښانه | بے له څهٔ عیب نه | (دا ده) نخښه | دویمه | چه مونږ ؤښایو تا ته | خپلے نخښے | لوے لوے۔

د څهٔ عیب نه سپین (پرقیدلے) راوځی دا دویمه نخښه ده د دے د پاره چه مونږ تا ته خپلے لوے لوے نخښے ؤښایو

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ㉔ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ㉕

لاړ شه | د فرعون طرف ته | بیشکه هغه | سرکشه شوے دے | ده ووئیل | اے زما ربه! | پرانیزه | زما د پاره | زما سینه

(اوس) ته د فرعون ته ورشه ځکه چه هغه ډیر سرکشه شوے دے۔ موسیٰ دعا وکړه اے زما ربه! زما سینه پرا نیزه۔

وَيَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ ㉖ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ㉗ يَفْقَهُوْا

او آسان کړه | ما د پاره | زما کار | او پرانیزه | غوټه | زما له ژبے نه | (چه) دوی پوهه شی

او زما معامله ما ته آسانه کړه۔ او زما د ژبے غوټه پرا نیزه ، چه خلق زما په خبره پوهٔ

قَوْلِيْ ㉘ وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ㉙ هٰرُوْنَ اَخِي ㉚

زما په خبره | او جوړ کړه | د پاره زما | وزیر (مددګار) | زما له خاندان نه | هارون | ورور زما

پوهیږی ، او زما د کور په خلقو کښے زما یو مددګار (مقرر کړے (یعنی) هارون چه زما ورور دے

اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ ㉛ وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ ㉜ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ㉝

مضبوط کړه | په دهٔ سره | زما قوت | او شریک کړه دے | زما په کار کښے | د پاره د دے چه | مونږ پاکی بیان کړو ستا | ډیره

د هغهٔ په ذریعه زما قوت مضبوط کړے او هغه زما سره په (دے) کار کښے شریک کړے چه مونږ ستا ډیره ډیره پاکی بیان کړو

وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ㉞ اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ㉟ قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ

او مونږ یاد کړو تا | ډیر | بیشکه ته ئے | مونږ ته | ګورونکے | ده ئے فرمائیل | تا ته درکړے شول

او تا ډیر ډیر یاد کړو ، بیشکه ته زمونږ (حالات) ګورونکے ئے۔ ده ئے فرمائیل اے موسیٰ! تا چه څهٔ

سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى ㊱ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓى ㊲

څهٔ چه تا وغوښتل | اے موسیٰ! | او بیشکه | مونږ احسان کړے دے | په تا | یو ځل | نور هم

وغوښتل هغه تا له درکړے شول ، او مونږ (له دے نه وړاندے) په تا باندے یو ځل نور هم احسان کړے وو۔

ع ٢٣ ١٠

اِذْ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى ﴿٣٨﴾ اَنِ اقْذِفِيْهِ فِى التَّابُوْتِ

هرکله چه الهام ولیږلو موږ | ستا د مور طرف ته | د هغه څه | چه الهام ورته کیدلو | چه واچوه دا | په یو صندوق کښې

چه ستا مور ته مو د هغې خبرې الهام وکړو چه د الهام قابله وه (یعنې) دا چه (موسیٰ) په یو صندوق کښې واچوه

فَاقْذِفِيْهِ فِى الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّىْ

بیا واچوه دا | په دریاب کښې | بیا به را واچوی دا | دریاب | په کناره | چه ونیسی دے | دښمن زما

بیا هغه (صندوق) په دریاب کښې لاهو کړه نو دریاب به یې بحیثیله غاړې ته را ولي او هغه څوک به یې را ونیسي چه

وَعَدُوٌّ لَّهٗ ۚ وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّىْ ۚ وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِىْ ﴿٣٩﴾

او دښمن د دهٔ | او ما واچوله | په تا باندې | محبت | د خپل طرف نه | او چه ته پالل کیږې | زما د سترګو په وړاندې

زما هم دښمن دے او د ده هم دښمن دے او ما په تا باندې د خپل اړخ نه (د خلقو) مینه اچولې وه او دا چه ته زما په نګرانۍ کښې ستا پالنه وکړے

اِذْ تَمْشِىْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ

هرکله چه تلله | ستا خور | پس وویل دے | آیا | زه وښایم تاسو ته | هغه څوک چه

شي او هرکله چه ستا خور ورغله او (فرعونیانو ته یې) وویل چه آیا زه درته د داسې خلقو پته درکړم چه هغوی به یې (دیره)

يَّكْفُلُهٗ ؕ فَرَجَعْنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ

ساتنه وکړی د دهٔ | بیا پسته کړے موږ ته | ستا د مور طرف ته | چه یخې شي | سترګې د هغې | او غمژنه نهٔ شي

ښه) پالنه وکړي نو موږ ته خپلې مور ته بیا پسته ورسولې چه د هغې سترګې در باندې یخې شي او نهٔ غمژنه کیږي

وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ۚ

او تا ووژلو تا | یو سړے | بیا موږ خلاصے درکړو تا ته | له غم نه | او موږ په ازمینت کښې واچولې ته | په ازمینت کولو

او تا یو سړے وژلے وو نو موږ تا له د دغه غم نه نجات درکړو او ته مو په قسم قسم آزمینتونو کښې واچولے

فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِىْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ ۬ۙ ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ﴿٤٠﴾

نو ته پاتې شوې | څو کلونه | په مدین والو کښې | بیا راغلې ته | په مقرر وخت باندې | اے موسیٰ!

نو ته څو کاله د مدین په خلقو کښې پاتې شوے، بیا اے موسیٰ! ته په خپل مقرر وخت (دلته) را غلې.

وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِىْ ﴿٤١﴾ اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِىْ

او غوره کړے ما ته | د خپل ذات د پاره | لاړ شه | ته | او ستا ورور | زما په نخښو سره

او (بیا) ما ته خپل ځان له غوره کړے (نو اوس) ته او ستا ورور زما د (ورکړلو) نخښو سره لاړ شئ

وَلَا تَنِيَا فِىْ ذِكْرِىْ ﴿٤٢﴾ اِذْهَبَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٤٣﴾

او سستی مهٔ کوئ | زما په یاد کښې | تاسو دواړه لاړ شئ | فرعون ته | بیشکه هغه | له حد نه تیر شوے دے

او زما په ذکر کښې سستی مهٔ کوئ، تاسو دواړه فرعون ته ورشئ ځکه چه هغه د حد نه وړاندې وتلے دے.

فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى ﴿٤٤﴾ قَالَا

پس دواړه هغهٔ ته | خبره | نرمه | کیدے شي چه هغه | نصیحت قبول کړي | یا ووېرېږي | دواړو وویل

نو هغهٔ سره پسته خبره وکړئ شاید چه نصیحت قبول کړي یا (زما د نیولو نه) ووېرېږي دواړو ووئیل

رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ﴿٤٥﴾ قَالَ

اے ربه زموږ | بیشکه موږ ویریږو | چه هغه په زیاتے وکړی | په موږ | یا به له حد نه تیرشی ۰ | الله وفرمائیل

چه اے زموږ ربه ! موږ ویریږو چه چرته په موږ باندې زیاتے ونه کړی یا زیات سرکشه نه شی ۰ الله وفرمائیل

لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى ﴿٤٦﴾ فَاْتِيٰهُ فَقُوْلَآ

تاسو مه ویریږئ | بیشکه زه | تاسو سره یم | زه آورم | او زه وینم | پس لاړشئ هغه ته | پس دوایئ

چه تاسو ویریږئ مه زه ستاسو ملګرے یم ۰ زه هر څه وینم او ګورم ، نو دواړه هغه ته ورشئ او دوایئ

اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ فَاَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۥ

بیشکه موږ | رالیږلے شوی یو | ستا د رب | پس ولیږه | موږ سره | بنی اسرائیل

موږ دواړه ستا د رب رالیږلے شوی یو ، نو ته موږ سره بنی اسرائیل سپر یږده ـ

وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۭ قَدْ جِئْنٰكَ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ ۭ وَالسَّلٰمُ عَلٰي مَنِ

او مه په عذاب کوه دوی | بیشکه موږ راوړې دی تاته | نخښه | ستا د رب له طرف نه | او سلامتی دی | په هغه چا

او هغوئی له تکلیفونه مه ورکوه ، موږ تاته ستا د رب د اړخ نه نخښه راوړے ده او سلامتیا د هغه چا (په نصیب)

اتَّبَعَ الْهُدٰى ﴿٤٧﴾ اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰي مَنْ كَذَّبَ

چه پیروی وکړی | د هدایت | بیشکه | وحی رالیږلے شوے ده | موږ ته | چه عذاب | په هغه چا دے | چه دروغ وګڼړی

ده چه په سمه لاره روان وی ، موږ ته خو دا وحی شوے ده چه (د تل) عذاب هغه چا له مقرر دے چه (پیغمبر) دروغژن

وَتَوَلّٰى ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا الَّذِيْٓ

او مخ واړوی | فرعون ووئیل | پس څوک دے | رب ستاسو ! | اے موسیٰ ! | دوئیل موسیٰ | زموږ رب هغه دے | چا چه

وګڼړی او (د حق نه) مخ اړوی فرعون ووئیل اے موسیٰ ! ستاسو رب څوک دے ؟ موسیٰ وفرمائیل چه زموږ رب هغه دے

اَعْطٰي كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿٥١﴾

ورکړو | هر څیز ته | وجود د ده | بیا ئے لار وښوده له | ده ووئیل | پس څه | حال دے | د وړومبو امتونو

چه هر څیز له ئے پیل او بڼت ورکړے دے او بیائے ورته سمه لار ښودلے ده فرعون ووئیل چه دا وواېه چه د تیرو قومونو څه حال شو

قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ رَبِّيْ وَلَا يَنْسَى ﴿٥٢﴾ الَّذِيْ

موسیٰ ووئیل | د دے علم | زما رب سره | په کتاب کښے دے | نه غلطیږی | زما رب | او نه هیروی | کوم چه

موسیٰ ووئیل چه د دے علم خو زما رب سره (په لوح محفوظ کښے درج) دے زما رب نه غلطی کوی او نه ترینه نه څه هیریږی (الله) هغه

جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا وَّاَنْزَلَ

جوړه کړه | تاسو د پاره | زمکه | فرش | او جوړے ئے کړے | تاسو د پاره | په دے کښے | لارے | او نازله ئے کړه

ذات دے چه زمکه ئے تاسو د پاره فرش کړے ده او تاسو د پاره ئے په هغے کښے لارے جوړے کړی دی او د

مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً ۭ فَاَخْرَجْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ﴿٥٣﴾

له آسمان نه | اوبه | پس راوویستلے موږ | د دے په ذریعه | ډیر قسمه | سبزیانه | مختلف

آسمان نه ئے اوبه راووروله ، بیا موږ د هغے په ذریعه قسم قسم شینکے راویستلے دے (چه جدا

ع ٣ ١١

كُلُوْا وَارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ ۗ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی النُّهٰی ﴿٥٤﴾ مِنْهَا

خورئ | او څروئ | خپل څاروی | بیشکه | په دې کښې | نخښې دی | عقلمندو دپاره | له دې نه

خورئ او خپل څاروی پکښې څروئ، بیشکه په دې کښې عقلمندو دپاره ډیرې نخښې دی موږ تاسو ددې زمکې

خَلَقْنٰكُمْ وَفِیْهَا نُعِیْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰی ﴿٥٥﴾

موږ تاسو پیدا کړئ | او په دې کښې به | موږ تاسو واپس راولو | او له دې نه به | موږ تاسو راوباسو | په دویم ځل

نه پیدا کړی یئ او دې ته به تاسو واپس کوو او هم ددې نه به مو یو ځل بیا بهر راوباسو

وَلَقَدْ اَرَیْنٰهُ اٰیٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَاَبٰی ﴿٥٦﴾ قَالَ اَجِئْتَنَا

او خامخا موږ وښودلې ده ته | خپلې نخښې | ټولې | نو ده دروغ وګڼلې | او انکار ئې وکړو | ده ووئیل | آیا ته راغلې یې موږ ته

او هغه ته (یعنې فرعون ته) موږ خپلې ټولې نخښې وښودلې خو هغه دروغ وګڼلې او انکاری پاتې شو هغه ووئیل اے موسیٰ

لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ یٰمُوْسٰی ﴿٥٧﴾ فَلَنَاْتِیَنَّكَ

دپاره ددې چه ته وباسې موږ | زموږ له زمکې نه | په خپل جادو | اے موسیٰ! | پس خامخا به راوړو موږ تا ته

آیا ته موږ ته ځکه راغلې یې چه موږ د خپل جادو په زور زموږ د ملک نه وباسې. نو اوس به موږ هم ستا په

بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ بَیْنَنَا وَبَیْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ

یو جادو | په شان ددې | پس مقرر کړه | په مینځ زموږ | او په مینځ ستا کښې | وخت د وعدې | چه خلاف ونه کړو له هغې نه موږ

مقابله کښې دغسې جادو راوړاندې کړو، نو ته زموږ او د خپل ځان ترمینځه یو داسې ځائے مقرر کړه چه نه به

وَلَآ اَنْتَ مَكَانًا سُوًی ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ یَوْمُ الزِّیْنَةِ

او نه ته | یو میدان دی | هوار | موسیٰ ووئیل | ستاسو وعده | ورځ | د ښائست ده

ترې موږ خلاف کوو او نه ته، په یو هوار میدان کښې (دا مقابله دی) (موسیٰ) ووئیل چه (نن ده) تاسو سره د میلې ورځ

وَاَنْ یُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًی ﴿٥٩﴾ فَتَوَلّٰی فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَیْدَهٗ

او دا چه راجمع کړے شي | خلق | د څاښت په وخت | بیا واپس شو | فرعون | بیا ده جمع کړو | خپل مکر وفریب

ټاکل شوه او دا چه خلق د ورځې تر خوریدو نه پس راجمع شي ، غرض دا چه فرعون واپس شو نو خپل د مکر سامان ئې ټول

ثُمَّ اَتٰی ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰی وَیْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا

بیا راغے | ووئیل | دوی ته | موسیٰ ؑ | افسوس دے په تاسو | مه جوړوئ | په الله باندې | دروغ

راغونډ کړو نو بیا راغے، موسیٰ ؑ هغه خلقو ته ووئیل چه اے بې نصیبو! تاسو په الله باندې د دروغو بهتان مه تړئ

فَیُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰی ﴿٦١﴾ فَتَنَازَعُوْٓا

پس هلاک به کړی تاسو | په عذاب | او هغه نامراده شو | چا چه | دروغ جوړ کړل | نو هغوئ په جګړه شول

ګنې هغه به تاسو په عذاب سره هلاک کړي او څوک چه دروغ جوړوي هغه نامراده پاتې شوې دے بیا هغوئ په

اَمْرَهُمْ بَیْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰی ﴿٦٢﴾ قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ

په خپل کار کښې | په خپل مینځ کښې | او هغوئ پټ وکړے | مشورے | دوی ووئیل | بیشکه | دا دواړه | جادوګر دی

خپل مینځ کښې په خپله معامله کښې په جګړه شول او پټې مشورې ئې وکړې (بیا ئې) ووئیل چه دا دواړه (وروڼړه) هم جادوګر دی

يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا

غواړي | چه اوباسي تاسو | ستاسو له زمکے نه | دَ خپل جادو په ذریعه | او دوي لرے کړي (برباد کړي)

(او) دا غواړي چه تاسو دَ خپل ملک نه دَ جادو په زور بهر اوباسي ، او ستاسو غوره لاره

بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾ فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ

ستاسو طریقه | بهترینه | نو اتفاق وکړئ | په خپل تدبیر بانديِ | بیا | راشئ | په صف کښے

ورانه کړي ، نو ټول سره راټول شئ او دَ خپل فن بند وبست وکړئ نو بیا قطار قطار راشئ

وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ

او بیشکه کامیاب شو | نن ورځ | هغه څوک | چه غالب شو | دوي ووئیل | اے موسیٰ ! | یا خو | ته غورزوے

حکمه چه نن به هغه څوک میدان ګټي چه غالب راشي ، هغوي ووئیل چه اے موسیٰ ! یا خو ته (وړومبے خپله امسا)

وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا

او یا | شو مونږه | اول | غورزوونکي | دے فرمائیل | بلکه | دغورزوئ تاسو | نو ناګهانه

وغورزوه یا هم مونږ وړومبے غورځوو . موسیٰ وفرمائیل چه نا ! تاسو اول دَ غورځوئ نو ناګهانه

حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾

دَ دوي رسئ | او دَ دوي امساګانے | په خیال کښے راغے | دَ ده | دَ دوي دَ جادو په وجه | چه هغه | منډے وهي

دَ هغوي پړي او امساګانے دَ موسیٰ په خیال کښے دَ جادو په زور سره داسے ښکاره شوے لکه چه منډے تړهے وهي

فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ

پس محسوسه کړه | په خپل زړه کښے | ویره | موسیٰ | مونږه ووئیل | مه ویرېږه | بیشکه ته

په دے باندِ موسیٰ په خپل زړه کښے ویره محسوسه کړه ، مونږ ورته ووئیل چه مه ویرېږه هم ته به برے

اَنْتَ الْاَعْلٰى ﴿٦٨﴾ وَاَلْقِ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا ۚ

یئے | غالب | او وغورزوه | څه چه | ستا په ښي لاس کښے دي | هغه به تیر کړي | څه چه | دوي جوړ کړي دي

بیا موے . او دا ستا په ښي لاس کښے چه (امسا) ده دا وغورزه ، دَ دوي جوړ کړي ټول څیزونه به تیر کړي

اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ ۚ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ حَيْثُ اَتٰى ﴿٦٩﴾

یقیناً څه چه | دوي جوړ کړي دي | هغه چال دَ جادوګر دے | او نه به کامیابیږي | جادوګر | هر چرته چه لاړ شي .

دوئ چه څه جوړ کړي دي دا خو تش دَ جادو فریب دے او جادوګر چه هر ځائے ته لاړ شي نو کامیابیږے نه شي

فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ﴿٧٠﴾

پس پریوتل | جادوګر | په سجده | دوي ووئیل | مونږ ایمان راوړو | په رب | دَ هارون | او موسیٰ

بیا جادوګر په سجده پریوتل او دائے ووئیل چه مونږ خو دَ هارون او موسیٰ علیهما السلام په رب ایمان راوړو

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ

فرعون ووئیل | تاسو ایمان راوړو | په ده | وړاندِ له دے نه چه | زهٔ اجازت درکړم تاسو ته | بیشکه دے | ستاسو مشر دے

فرعون ووئیل له دے نه وړاندِ چه زهٔ تاسو ته اجازت درکړم تاسو په ده ایمان راوړو ، بیشکه چه دا ستاسو هغه

الَّذِیْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ اَیْدِیَكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ

چا چه | ښودلے یې تاسو ته | جادو | پس خامخا به پرې کړم | ستاسو لاسونه | او ستاسو پښې | د مخالفو اړخونو نه

مشر (استاذ) دے چه تاسو ته ئے هم جادو ښودلے دے نو اوس زه ستاسو لاس او پښې اړولې پرې کوم او د تجورو په اونو

وَّ لَاُوصَلِّبَنَّكُمْ فِیْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ۫ وَ لَتَعْلَمُنَّ اَیُّنَاۤ اَشَدُّ عَذَابًا وَّ اَبْقٰى ﴿٧١﴾

او زه به ضرور تاسو په سولئ ځړوم | په تنو | د تجورو | او تاسو ته به معلومه شی | چه څوک په مونږ کښې | سخت او پائیدار عذاب ورکونکے

کښې مو په سولئ ځړوم ، او دا به درته معلومه شی چه په مونږ (دواړو) کښې د چا عذاب سخت او زیات پائے کیدونکے

قَالُوْا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَیِّنٰتِ وَ الَّذِیْ فَطَرَنَا

دوی وویل | هیڅ کله به ترجیح درنکړو تا ته | په هغه څه | چه راغلی دی مونږ ته | واضح دلیلونه | او چا چه | مونږ پیدا کړو

عذاب دے؟ هغوی (جادوګرو) ورته وویل چه مونږ به تا هیڅ کله غوره نه کړو د هغه خرګندو دلیلو نو په وړاندې چه مونږ ته راغلی دی او د هغه

فَاقْضِ مَاۤ اَنْتَ قَاضٍ ؕ اِنَّمَا تَقْضِیْ هٰذِهِ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا ﴿٧٢﴾

بس ته وکړه | څه چه | ته کونکے والا یې | بیشکه | ته خو حکم کوے | د دې ژوند | د دنیا

خدائ په مقابله کښې چه مونږ هغه پیدا کړی یو نو ته چه هر څه فیصله کول غواړے هغه وکړه ته خو بس د دې دنیا په حقله (چه څه غواړې هغه)

اِنَّاۤ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِیَغْفِرَ لَنَا خَطٰیٰنَا وَ مَاۤ اَكْرَهْتَنَا

بیشکه مونږ ایمان راوړو | په رب خپل | چه هغه وبخښی | مونږ له | زمونږ ګناهونه | او هغه څه | چه مجبوره کړو تا مونږ

کولے شې مونږ خو په خپل رب باندې ایمان راوړو چه هغه زمونږ ګناهونه معاف کړی او کوم جبر چه تا زمونږ د جادو په حقله کړے

عَلَیْهِ مِنَ السِّحْرِ ؕ وَ اللّٰهُ خَیْرٌ وَّ اَبْقٰى ﴿٧٣﴾ اِنَّهٗ مَنْ یَّاْتِ رَبَّهٗ

په هغې | له جادو کولو نه | او الله | ډیر ښه | او باقی پاتې کیدونکے دے | بیشکه هغه | څوک چه راشی | خپل رب ته

دے هغه (هم راته وبخښی) او الله د هر چا نه بهتر دے او باقی پاتې کیدونکے دے یاد ساتئ چه څوک خپل رب ته د مجرم

مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ؕ لَا یَمُوْتُ فِیْهَا وَ لَا یَحْیٰى ﴿٧٤﴾ وَ مَنْ یَّاْتِهٖ

ګناهګار | نو بیشکه د ده د پاره | دوزخ دے | نه به مری | په هغې کښې | او نه به ژوندے پاتې کیږی | او څوک چه راشی ده ته

په حیث راشی نو بیشکه هغه د پاره جهنم دے چه نه به په کښې مری او نه به ژغیږی او څوک چه ورته ایماندار

مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓىِٕكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿٧٥﴾

مؤمن | هغه عملونه وکړل | ښه | پس هم دا خلق دی چه دوی د پاره | درجې دی | اوچتې

ورشی چه د نیکئ کارونه ئے هم کړی وی . نو دا سے خلقو له اوچتې مرتبې مقرر دی

جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ

باغونه | د همیشه اوسیدو | چه بهیږی به | لاندې د هغې نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغې کښې

(یعنی) د همیشه استوګنې د پاره باغونه چه د هغې لاندې به ویالے بهیږی ، دوی به پکښې تل تر تله اوسیږی

وَ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾ وَ لَقَدْ اَوْحَیْنَاۤ اِلٰى مُوْسٰۤى ۙ

او دا | بدله ده | د هغه چا | چه پاک شو یې | او بیشکه مونږ وحی ولیږله | موسیٰ ته

او هم دغه انعام دے د هغه چا چه پاک شو او مونږ موسیٰ ته خپله وحی ولیږله -

ع ٣/١٢

اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِیْ فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِیْقًا فِی الْبَحْرِ یَبَسًا

چه د شپې بوځه | زما بندګان | بیا جوړه کړه | دوی د پاره | لاره | په سمندر کښې | اوچه

چه زما بندګان شپه په شپه (د مصر نه) بهر بوزه. بیا ورله په سمندر کښې (د امسا په وهلو) یوه اوچه لاره جوړه کړه

لَّا تَخٰفُ دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰی ﴿۷۷﴾ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ

مه ویریږه | د نیولے کیدو نه | او مه ویریږه (له ډوبیدو نه) | پس دوی پسے شو | فرعون | د خپلو لښکرو سره

مه د (چاد) رالاندې کولو نه ویره کوه او مه ډوبیدو ویره (په زړه کښې ساته) نو فرعون د دوی په پسے خپلے لښکرے روانے کړے.

فَغَشِیَهُمْ مِّنَ الْیَمِّ مَا غَشِیَهُمْ ﴿۷۸﴾ وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ

پس پټ کړل دوی | سمندر ما | هغه چه | پټ ئے کړل دوی | او ګمراه کړو | فرعون

نو د دریاب موجونه په دوی راوختل او دوی ئے پټ کړل (یعنی ډوب ئے کړل) او فرعون خوخپل قوم ګمراه کړے

قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰی ﴿۷۹﴾ یٰبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ قَدْ اَنْجَیْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ

خپل قوم | او سمه لاره ئے ورنه ښودله | اے بنی اسرائیلو! | بیشکه نجات درکړه مونږ تاسو ته | ستاسو د دښمن نه

وو او سمه لاره ئے ورته نه وه ښودلے. اے بنی اسرائیلو! مونږ تاسو ستاسو د دښمن نه خلاص کړئ او

وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّوْرِ الْاَیْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَیْكُمُ الْمَنَّ

او وعده وکړه مونږ تاسو سره | د طور ښي طرف ته | او نازل کړل مونږ | تاسو باندې | من

مونږ د کوه طور ښي طرف ته تاسو سره (د تورات درکولو) وعده وکړه او مونږ په تاسو باندې من او سلوی

وَالسَّلْوٰی ﴿۸۰﴾ كُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا

او سلوی | خورئ | له هغه پاکو څیزونو نه | کوم چه | مونږ تاسو ته درکړی دی | او حد نه مه تیریږئ

نازل کړل (او حکم مو درکړو چه) کوم پاکیزه څیزونه مونږ تاسو له درکړی دی هغه خورئ او په دے کښې له

فِیْهِ فَیَحِلَّ عَلَیْكُمْ غَضَبِیْ ۚ وَمَنْ یَّحْلِلْ عَلَیْهِ

په دے کښے | کنې راکوز به شي | په تاسو باندې | زما غضب | او په چا باندې چه راکوز شي

حد نه مه تیریږئ کنې په تاسو باندې به زما غضب نازل شي او په چا چه زما غضب نازل

غَضَبِیْ فَقَدْ هَوٰی ﴿۸۱﴾ وَاِنِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ

زما غضب | نو هغه هلاک شو | او بیشکه زه | ډیر زیات بخښونکے یم | هغه څوک چه | توبه ئے وکړه | او ایمان ئے راوړو

شو نو هغه هلاک شو. او زه به ضرور و بخښم هغه څوک چه توبه وکړی او ایمان راوړی

وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰی ﴿۸۲﴾ وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ یٰمُوْسٰی ﴿۸۳﴾

او عمل ئے وکړو | نیک | بیا ئے سمه لاره بیا موندله | او کوم څیز په تلو راوستے ته؟ | د خپل قوم نه | اے موسیٰ!

او نیک عمل وکړی او بیا په سمه لاره قائم پاتے شي او اے موسیٰ! دا ته ولے د خپل قوم نه دا سے په تلوار راغلے

قَالَ هُمْ اُولَآءِ عَلٰٓی اَثَرِیْ وَعَجِلْتُ اِلَیْكَ رَبِّ

ده وویل | دوی دغه دی | ما پسے دی | او ما تلوار وکړه | ستا طرف ته | اے ربه زما

شوے، موسیٰ ووئیل اے زما ربه! هغه ټول ما پسے (راروان) دی، او ما ستا طرف ته (د راتلو) تلوار ځکه وکړو چه

لِتَرْضٰى ﴿٨٤﴾ قَالَ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ وَاَضَلَّهُمُ

چه ته راضي شې | وې فرمایل | بېشکه مونږ | په آزمېښت کښې واچول | ستا قوم | له تا نه پس | او ګمراه کړل دوی

چه ته خوشحاله شې. وې فرمایل مونږ ستا قوم له تا نه پس په آزمېښت کښې اچولے دے او هغوئ خو سامري ګمراه

السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ

سامري | پس راواپس شو | موسیٰ | خپل قوم ته | په غصه | په افسوس | وې فرمایل

کړل - پس موسیٰ علیه السلام د غصه او د افسوس په حالت کښې خپل قوم ته واپس راغے (او) وې ویل

يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۬ ۚ اَفَطَالَ عَلَيْكُمُ

اے زما قومه! | آیا وعده نه وه کړې تاسو سره | ستاسو رب | وعده ښه | آیا اوږده شوه | په تاسو باندې

چه اے زما قومه! آیا ستاسو رب تاسو سره یوه ښه وعده نه وه کړې، بیا آیا په تاسو باندې ډیر زیات

الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَخْلَفْتُمْ

موده | یا او غوښتل تاسو | چه راکوز شي | په تاسو باندې | غضب | ستاسو د رب | بیا مخالفت وکړو تاسو

وخت تیر شوے وو، یا دا مو غوښته وه چه په تاسو د رب غضب (خامخا) راشي نو ځکه ما سره د بوخ کړې

مَّوْعِدِيْ ﴿٨٦﴾ قَالُوْا مَآ اَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَآ

زما د وعدے | دوی وویل | مخالفت نه دے کړے مونږ | ستا د وعدے | په خپل اختیار | او لیکن مونږ باندې بار کړے شوی وو

لوظ ماته پسر شوئ هغوی ورته وویل چه مونږ تاسره د خپل لوظ نه په خپله خوښه لاس پسر شوی نه یو خو خبره دا ده چه په

اَوْزَارًا مِّنْ زِيْنَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا فَكَذٰلِكَ اَلْقَى

بوج | د کالو | د قوم (د فرعون) | نو مونږ دا وغورځول | بیا دغه شان | وغورځول

مونږ باندې د (قبطي) قوم (پاتے شوی) کالي درانه شوي وو نو مونږ هغه وغورځول، نو دغه شان سامري هم

السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوْا

سامري | بیا ده راوویستلو | دوی د پاره | یو سخے | یو جسم | چه یې آواز وو | پس دوی وویل

وغورځول نو بیا (سامري) هغه خلقو ته یو سخے رابیکاره کړو چه هغه تش کالبوت وو خو آواز یې کولو پس هغوئ

هٰذَآ اِلٰهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوْسٰى ۬ ۚ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ اَفَلَا يَرَوْنَ اَلَّا يَرْجِعُ

دا ستاسو معبود دے | او معبود | د موسیٰ | پس ده هیر کړو | پس آیا دوی نه ګوري | چه هغه نه ورواپس کوي

وویل چه هم دا ستا معبود دے او د موسیٰ هم معبود دے خو موسیٰ هیر کړو آیا دا خلق نه ګوري چه هغه (بت) د هغوئ

اِلَيْهِمْ قَوْلًا ۬ ۙ وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ ع ٤ ١٤

دوی ته | څه خبره | او نه اختیار لري | د دوی د نقصان | او نه د څه نفع | او بېشکه ویلی وو

د خبرے جواب نه ورکوي او نه د هغوئ د نقصان اختیار لري او نه د نفع، او له دے نه وړاندې هارون

لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ وَاِنَّ

دوی ته | هارون (هم) | له دے نه وړاندې چه | اے زما قومه! | بېشکه په آزمېښت کښې واچولے شوئ تاسو | په دې څیز | او بېشکه

هغوئ ته ویلی هم وو چه اے زما قومه! په دې څیز سره په تاسو آزمېښت کړے شوے دے او بېشکه

رَبُّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِيْ وَاَطِيْعُوْٓا اَمْرِيْ ﴿٩٠﴾ قَالُوْا لَنْ نَّبْرَحَ

رب ستاسو | رحمٰن دے | پس تاسو پیروی وکړئ زما | او ومنئ | زما حکم | دوی وویل | مونږ به هیڅکله پریږدو

ستاسو رب رحمٰن (خدائے) دے نو په ما پسے روان وسیږئ او زما حکمونه منئ. هغوئ وویل چه مونږ خو به ددهٔ

عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰى ﴿٩١﴾ قَالَ يٰهٰرُوْنُ

په دے | ټینګ پاتے کیدونکی | تر دے چه | واپس راشی | زمونږ طرف ته | موسیٰ | دهٔ فرمائیل موسیٰ | اے هارونه!

په عبادت کښے اختیار پرانهٔ یو تر دے چه موسیٰ راته واپس راشی - موسیٰ وویل چه اے هارونه!

مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ﴿٩٢﴾ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ اَفَعَصَيْتَ

څهٔ څیز منع کړے ته | هغه کله چه تا ولیدل دوی | چه ګمراه شول | چه ته زما پیروی مهٔ کوه | آیا تا نافرمانی وکړه

ته څهٔ وجه ترانلے نهٔ راتلے څهٔ وخت چه تا داولیدل چه دوئ ګمراهان شول؟ آیا تا هم زما دَ حکم نافرمانی

اَمْرِيْ ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ ۚ اِنِّيْ خَشِيْتُ

زما دَ حکم | دهٔ وویل | اے زما دَ مور ځویه! | مهٔ نیسه | زما ږیره | او نهٔ ویښتهٔ دَ سر زما | بیشکه زهٔ ویریدم

وکړه؟ (هارون) وویل چه اے زما دَ مور زویه (ورورهٔ!) زما ږیره او زما سر مهٔ رانیسه ماسره خو دا اندیښنه

اَنْ تَقُوْلَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ﴿٩٤﴾

چه ته به وائے چه | جُداۍ راوستله تا | دَ بنی اسرائیلو په مینځ کښے | او خیال دِ ونهٔ ساتلو | زما دَ خبرے

شوه چه ګنی ته داونه وائے چه تا په بنی اسرائیلو کښے ډله بازی واچوله او زما دَ وینا انتظار دِ ونهٔ کړو

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا

دهٔ فرمائیل | پس څهٔ حال دے ستا | اے سامری! | دهٔ وویل | ما ولیدل لیدل ما | هغه څهٔ چه | نهٔ وو لیدلی دوی

موسیٰ وویل چه بیا سامریه! ته ووایه چه ستا څهٔ معامله ده؟ هغهٔ وویل چه ما ته یو داسے څیز ښکاره شو چه هغه

بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ

هغه | پس را واخستلے ما | یو موټے خاوره | دَ نقش قدم | دَ فرښتے | پس واچولے ما هغه (په څخی کښے) | او دغسے

بل چا ته نهٔ ښکاریدو هغه دَ فرښتے دَ قدم دَ خاورے نه یو موټے راواخستو بیا ما هغه په دے بت کښے ورواچولو او همدا

سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ

صلاح راکړه | ماته | زما نفس | دهٔ فرمائیل | لرے شه | پس بیشکه | تا دَ پاره | په ژوند کښے (دنیاوی)

خبره زما نفس ته ښهٔ ولګیده. موسیٰ وفرمائیل چه ځه! چه ټول عمر به ته هم دا وائے چه ماله

اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ ۪ وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ

چه ته به وائے | چه (ماته) لاس مهٔ راوړه | او بیشکه تا دَ پاره | یو وعده ده (دَ عذاب) | چه مخالفت به نهٔ شی کیدے دَ هغے | او وګوره

لاس مهٔ راوړئ - او تاسره یو بله وعده (دَ عذاب هم) ده چه دَ هغے نه دِ خلاصے نشته او خپل دے

اِلٰٓى اِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ؕ لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ

خپل معبود ته | هغه په کوم چه ته همیشه پاتے وے | معتکف | مونږ به ضرور وسیزو دا | بیا به دَ بهیوو دا

معبود ته وګوره دَ کوم چه ته عبادت کوے، مونږ به دا وسیزو او بیا (دَ دے ایرے) به په

فِى الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ اِنَّمَآ اِلٰـهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ

په دریاب کښې | په الوزولو سره | بیشکه معبود ستاسو | الله دے | هغه ذات دے | چه نشته هیڅ معبود | بے له ده نه

دریاب کښې به یې هیرو . ستاسو معبود خو بس یو الله دے چه د هغه نه سیوا بل معبود نشته،

وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾ كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ

راګیر کړے دے هغه | هر څیز | په علم سره | دغه شان | مونږ بیانوو | تا ته | له خبرونو د

هغه هر څیز په خپل علم کښې راګیر کړے دے، (اے پیغمبره!) دغسې مونږ تا ته د تیرو (شویو واقعاتو) خبرو د

مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾ ۖۚ مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ

هغه څه نه چه تیر شوي دي | او بیشکه مونږ درکړې دي تا ته | له خپل طرف نه | ذکر (قرآن) | چا چه مخ واړولو | له دے نه

اورو . او مونږ درله د خپل طرف نه یو (ډیر) نصیحت نامه درکړے ده، څوک چه د دې نه مخ وګرځوي

فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ ۙ خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ؕ وَسَآءَ

بیشکه هغه | به اوچت کړي | په ورځ د قیامت | یو بوج | همیشه به وي دوي په هغې کښې | او بد دي

هغه به د قیامت په ورځ (د ګناهونو) یو (لوے) بوج اوچت کړے وي او په دغه (حالت) کښې به همیشه وسیږي

لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾ ۙ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ وَ

د دوي د پاره | په ورځ د قیامت | هغه بوج وچتول | په کومه ورځ چه به پوکے ووهلے شي | په شپیلۍ کښې | او

او دغه به د قیامت په ورځ د هغوي په حقله ډیر خراب بار وي، په کومه ورځ چه شپیلۍ به پوک ووهلے شي او تول

نَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾ ۖۚ يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ

را جمع به کړو | مجرمان | په دغه ورځ | چه شنې شوې به وي د دوي سترګې | پټ پټ خبرې به کوي دوي | په خپل مینځ کښې

مجرمان به په دغه ورځ داسې راټول کړو چه شنې سترګې به یې (ړوندې) وي . په خپل مینځ کښې به ګنګوسې کوي

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ

چه نه یئ پاتې شوي تاسو | مګر لس (ورځې) | مونږ ډیر ښه پوهیږو | په هغه څه چه | دوي یې وائي

چه تاسو خو به صرف لس (ورځې په دنیا کښې) پاتې شوي یئ ، څه چه دوي وائي مونږ په هغې ښه پوهیږو

اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾ ۧ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ ع ٥/١٥/١٤

هر کله چه وائي | په دوي کښې ښه | په لارے کښې | چه نه یئ پاتې شوي تاسو | مګر یوه ورځ | او دوي تپوس کوي له تا نه

دغه وخت به په دوي کښې زیاتې ښې لارے والا ووائي چه تاسو خو صرف یوه ورځ (په دنیا کښې) پاتې شوي یئ او (اے پیغمبره!)

عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّىْ نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ ۙ فَيَذَرُهَا قَاعًا

د غرونو په حقله | نو ووایه | چه خواره به کړي دا | زما رب | په الوزولو سره | پس پرېږده به دې دا | میدان

خلق له تا نه د غرونو په حقله تپوس کوي نو ووایه چه زما رب به دا غرونه باتکل والوزوي، او زمکه به هوار میدان

صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ ۙ لَّا تَرٰى فِيْهَا عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ﴿١٠٧﴾ ؕ يَوْمَئِذٍ

هوار | نه به وینې ته | په دے کښې | کوږ والے | او نه څه اوچتوالے | په دغه ورځ به

پریږدي ته به نه په دے کښې څه کوږ والے وینې او نه لوړوالے . په دغه ورځ به تول

يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُ ۚ وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ

روان وی دوی وروستو | د یو آواز کوونکی | هیڅ کوږوالے به نه وی | د هغه نه | او ښکته به شی | آوازونه

(خلق) به بلونکی پسے روان شی چه د هغه په وړاندے به (د چا) هیڅ کږلیچ باقی پاتے نه شی او ټول آوازونه به د رحمٰن خدا

لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ١٠٨ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ

الله ته | پس نه به آورے ته | مګر رو آواز | په دغه ورځ | به فائده نه ورکوی | شفاعت

(د آواز) په وړاندے ټیټ شی نو ته به د پښو د کشار نه بغیر بل آواز نه اورے ، په دغه ورځ به سفارش چا ته فائده نه ورکوی

إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ١٠٩ يَعْلَمُ مَا

مګر هغه چا ته | چه اجازت به ورکوی هغه ته | رحمان | او خوښه کړے وی | د هغه | خبره | هغه پوهیږی | په هغه

خو هغه چا ته چه رحمٰن ورته اجازت ورکړے وی او د هغه په حقله ئے خبره خوښه کړے وی ، هغه د ټولو خلقو

بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ١١٠ وَعَنَتِ

چه وړاندے د دوی دی | او په هغه | چه وروستو د دوی دی | او احاطه نه شی کولے | په هغه | په علم سره | او ټیټ شوی به وی

وړاندے او وروستو حالات ورته ښه پیژنی او (خلق) په خپل علم سره د هغه (د معلوماتو) احاطه نه شی کولے او ټول مخونه

الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ١١١

مخونه | همیشه ژوندی او قائم پاتے کیدونکی ته | او نامراده شو هغه | چا چه | بوج اوچت کړو | د ظلم

به د تل ژوندی او د نظام چلوونکی (الله) په وړاندے ټیټ شوی وی او چا چه د نافرمانئ بوج اوچت کړو هغه به نامراده وی .

وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا

او څوک چه کوی عمل | نیک | او هغه مؤمن وی | پس دے به نه ویریږی | له ظلم نه

او څوک چه نیک کار وکړی ، او هغه مؤمن هم وی نو هغه سره به نه د ظلم څه ویره وی

وَلَا هَضْمًا ١١٢ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا

او نه له څه نقصان نه | او دغه شان | مونږ نازل کړو دا | قرآن | په عربئ ژبه کښے | او مونږ په رنګ رنګ بیان کړل

او نه د نقصان . او دغه رنګ مونږ دا قرآن په عربئ ژبه کښے نازل کړے دے او په دے کښے

فِيهِ مِنَ الْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ١١٣

په دے کښے | ویرول | د پاره د دے چه دوی | پرهیزګاری وکړی | یا هغه پیدا کړی | د دوی د پاره | څه نصیحت

مونږ هر قسم سزاګانے اورولی دی چه خلق و ویریږی یا دا چه (دا قرآن) په کښے پوهه پیدا کړی .

فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۗ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِن قَبْلِ

نو ډیر لوئے دے | الله | بادشاه | چه حقیقی دے | او تلوار مه کوه | په (لوستلو د) قرآن کښے | د وړاندے له دے نه

نو ډیر لوئے دے هغه الله چه حقیقی بادشاه دے او ته (د) قرآن (په لوستلو کښے (هیڅ چرته) تلوار مه کوه ، د دے نه

أَن يُقْضَىٰ إِلَيْكَ وَحْيُهُ ۖ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ١١٤

چه پوره شی | ستا طرف ته | د هغے وحی | او ووایه | اے زما ربه! | زیات کړه ما | په علم کښے

وړاندے چه د دے وحی در باندے پوره پوره رانازل شی او دا وایه چه اے زما ربه! زما علم زیات کړه .

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِىَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ

او موږ وعده واخستله | د آدم نه | له دے نه وړاندې | پس هغه هېر کړل | او ونه موندله موږ | په ده کښې

او موږ له دے نه وړاندې د آدم نه وعده اخستې وه خو هغه نه غفلت وشو او موږ په هغه کښې عزم ونه

عَزْمًا ﴿١١٥﴾ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟

پخه اراده | او هغه کله چه | موږ ووئیل | فرښتو ته | چه تاسو سجده وکړئ | آدم ته | پس سجده وکړه دوی

موندلو۔ او (یاد کړه) هر کله چه موږ فرښتو ته ووئیل ، چه تاسو آدم ته سجده وکړئ نو ټولو سجده وکړه

إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ

سوا د ابلیس نه | ده انکار وکړو | موږ ووئیل | اے آدم ! | بیشکه دا | دښمن دے | ستا | او ستا د ښځې

خو ابلیس ونه کړه هغه انکار وکړو۔ پس موږ ووئیل چه اے آدم ! دا ستا او ستا د ښځې دښمن دے۔

فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰٓ ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا

پس داسې ونه باسي تاسو دواړه | له جنت نه | بیا به تاسو ته تکلیف وي | بیشکه تا د پاره دي | چه ته به نه اوږے کېږې | په دے کښې

نو هسې نه چه تاسو دواړه د جنت نه بهر وباسي نو په مصیبت کښې اخته شئ۔ دلته (په جنت) کښې به نه ته اوږے کېږې

وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا۟ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾

او نه به بربنډ کېږې | او بیشکه ته به | نه تږے کېږې | په دے کښې | او نه به | د نمر گرمي بیا موے۔

او نه به چرته بربنډ کېږې او دا هم ده چه نه به چرته تږے کېږې او نه به په نمر کښې تنگېږې۔

فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ ٱلشَّيْطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ

بیا وسوسه واچوله | هغه ته | شیطان | ده ووئیل | اے آدم ! | آیا زه وښایم تا ته | بوټے او ونه

نو شیطان د هغوی په زړه کښې وسوسه واچوله هغه ووئیل چه اے آدمه ! آیا زه تا ته د همیشه پاتې کېدو ونه

ٱلْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴿١٢٠﴾ فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا

د همیشه کېدلو | او بادشاهي | چه نه زړېږي | بیا دواړو وخوړه | له هغې نه | نو ښکاره شول | دوی ته | شرمگاهونه د دوی

وښایم او داسې بادشاهي وښایم چه چرے به نه کمزورې کېږي نو دواړو د هغې (ونې) نه خوراک وکړو نو خپل د پردې ځایونه ورته ښکاره

وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ ۚ وَعَصَىٰٓ

او شروع وکړه دوی | چه انښلولے ئې | په ځانونو پورے | پاڼې | د جنت | او نافرماني وکړه

شول، او دواړو په ځان پورے د جنت پاڼې انښلول شروع کړل ، او آدم علیه السلام نه د خپل

ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾ ثُمَّ ٱجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيْهِ

آدم | د رب خپل | او هغه په غلطۍ کښې پرېوتو | بیا غوره کړو دے | رب د ده | بیا توبه قبوله کړه | د ده

رب په حکم کښې قصور وشو او هغوی په غلطۍ کښې پرېوتل ، بیا خپل رب هغه مقبول کړو نو د هغه توبه ئې قبوله کړه

وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾ قَالَ ٱهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًۢا ۖ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ

او لار ئې ورته وښوده | ده فرمایل | ښکته لاړ شئ | دلته نه | ټول | ځینې له تاسو نه به | د ځینو | دښمنان وي

او سمه لار ئې ورته وښودله ، الله تعالیٰ وفرمایل چه تاسو دواړه اوس (د جنت نه) کوز شئ په جمع ، تاسو به د یو بل دښمنان یئ

ع ٦ ١١ ١٥

فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى ۙ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ

پس که چیرے راشي تاسو ته | زما له طرف نه | هدایت | نو چا چه پیروي وکړه | زما د هدایت | نو هغه به نه ګمراه شي

بیا که چیرے زما د طرف نه تاسو ته هدایت درشي ، نو څوک چه زما د هدایت پیروي وکړي نو هغه به نه ګمراه کیږي

وَلَا يَشْقٰى ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا

او نه به تکلیف مومي | او چا چه مخ واړولو | زما د ذکر نه | نو بیشکه د هغه | ژوندون به | تنګ وي

او نه به محرومه پاتے کیږي . او څوک چه زما د یاد نه مخ واړوي نو بیشکه د هغه ژوندون به لنډ تنګ وي

وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿۱۲۴﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى

او مونږ به را پاڅوو دے | په ورځ د قیامت | ړوند | وائي به | اے زما ربه ! | ولے را پاڅولے تا زه | ړوند

او د قیامت په ورځ به مونږ هغه ړوند را پاڅوو . هغه به وائي چه اے زما ربه ! تا زه ړوند ولے را پاڅولے یم

وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿۱۲۵﴾ قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ

او زه خو وم | بینا | وُ به فرمائي | دغه شان | راغلے وے تا ته | نخښے زمونږ | نو تا هغه هیرے کړے

زه خو په دُنیا کښے د سترګو خاوند وم حکم به وشي دغه شان تا ته زمونږ نخښے راغلے وے خو تا د هغے پروا و نه ساتله

وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿۱۲۶﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ

او دغه شان | نن ورځ به | هیر کړے شے ته | او دغه شان | مونږ سزا ورکوو | هغه چا ته چه لحد نه تیر شي

او دغے به نن ته هم هیر کړے شے . او دغے مونږ هر هغه چا له سزا ورکوو چه له حد نه وړاندې تیر

وَلَمْ يُؤْمِنْۢ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿۱۲۷﴾

او ایمان رانه وړي | په آیتونو | د رب خپل | او عذاب | د آخرت | زیات سخت دے | او زیات باقي پاتے کیدونکے

شي او د خپل رب نخښے و نه مني ، او د آخرت عذاب ډیر سخت او ډیر باقي پاتے کیدونکے دے .

اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ

آیا لارښوونه نه ده شوي له | دوي ته | چه څومره | مونږ هلاک کړل | له دوي نه وړاندې | قومونه | چه دوي ګرځي راګرځي

آیا دوي د دے نه هم سبق وانه خستلو چه مونږ (ترا وسه) د دوي نه وړاندې څومره ډیر قومونه تباه کړي دي چه د هغوي

فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿۱۲۸﴾ وَلَوْلَا

د دوي په کورونو کښے | بیشکه په دے کښے | نخښے دي | د عقلمندو د پاره | او که چرے شوے نه وے

په کورونو کښے (اوس) دوي ګرځي راګرځي ؟ بیشکه په دے کښے د عقل خاوندانو د پاره نخښے پرتے دي . او که چرے ستا

كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿۱۲۹﴾ فَاصْبِرْ

یوه خبره | له وړاندې نه | ستا د رب له طرف نه | نو (عذاب) لازم وُو | او یوه نیټه | مقرر شوے | پس صبر وکړه

د رب له طرف نه یوه خبره د اول نه (خلاصه) شوے نه وے او یو وخت مقرر نه وے نو په دوي به عذاب راتلل لازم شوي وو ، نو

عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

په هغه خبره | چه دوي وائي | او پاکي بیان کړه | په تعریف سره | د خپل رب | وړاندې | د راختلو | د نمر نه

ته د دوي په خبرو باندې صبر کوه او د خپل رب پاکي د هغه د تعریفونو سره بیانوه ، د نمر د ختلو نه وړاندې

ع ۷

وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ

او وړاندې | د پرېوتلو د دې نه | او په ځينو وختونو | د شپې | پس پاکي بيانوه | او په طرفونو كښې | د ورځې

او د نمر د ډوبېدلو نه وړاندې او د شپې په ځينو وختونو كښې هم تسبيح كوه او د ورځې په اول او په آخر كښې هم

لَعَلَّكَ تَرْضٰى ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ

چه ته خوشحاله شې | او مه غځوه | خپلې سترګې | په طرف د هغه څيزونو | چه فائده ورکړې مونږ په د غسې

د پاره د دې چه خوشحاله او سپېره شې او هيڅكله په هغه څيزونو پسې سترګې مه پورته كوه چه مونږ د دوی ځينو

اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ۬ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ۭ وَرِزْقُ

مختلفو خلقو ته له دوی نه | رونق | د ژوند | د دنيا | چه مونږ په دوی ازمېښت وكړو | په هغه كښې | او روزی

ټولګو له وركړې دی . دا تش د دنيا د ژوند رونق دے ، چه مونږ په دے كښې د دوی آزمېښت وكړو

رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٣١﴾ وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ

ستا د رب | غوره | او پائېدونكې ده | او حكم كوه | خپل كور والو ته | د مونځ | او قائم وسېږه

او ستا د رب وركړے رزق غوره او زيات باقي پاتې كېدونكے دے . او خپلو خپلوانو ته د مونځ حكم وركوه او پخپله هم د

عَلَيْهَا ۭ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۭ نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۭ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿١٣٢﴾

په هغې | نه غواړو مونږ له تا نه | روزی | هم مونږ | روزی وركوو تا له | او (ښه) انجام | د پرهېزګارۍ دے

مونځ پابند وسېږه مونږ تا نه روزی نه غواړو بلكه مونږ تا ته رزق دركوو او ښه انجام د پرهېزګارۍ دے .

وَقَالُوْا لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ

او دوی وائي | ولې نه | راځي مونږ ته | څه نخښه | د دهٔ د رب د طرف نه | ايا نه ده راغلې دوی ته | واضح نخښه

او (دا) خلق وائي چه دے مونږ ته د خپل رب د طرف نه يوه نخښه ولې نه راوړي ؟ ايا دوی ته هغه خبرے څرګندے

مَا فِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿١٣٣﴾ وَلَوْ اَنَّآ اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ

چه ده | په وړومبيو صحيفو كښې | او كهٔ چرے مونږ | هلاک كړے دوی | په عذاب سره

نه شوے چه په مخكنو صحيفو كښې (ليكلې) پرتې دی او كه مونږ دوی د دے (قرآن) نه وړومبې په عذاب باندې

مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ

له دے نه وړاندې | نو دوی به وئيل | اے زمونږ ربه | ولې تا را ونهٔ لېږلو | زمونږ طرف ته | څوک رسول | چه مونږ پيروي كړے وے

هلاک كړی وے نو دوی به وئيل چه اے زمونږ ربه! تا مونږ ته ولې يو رسول راونهٔ لېږلو چه مونږ ستا د حكم

اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا ۚ

ستا د آيتونو | له دے نه وړاندې | چه ذليل شو مونږ | او رسوا شو مونږ | ووايه | هر يو | انتظار كونكے دے | پس تاسو (هم) انتظار كوئ

پيروي كړے وے وړاندې د دے نه چه بے قدره او رسوا شو ؟ ورته ووايه چه ټول انتظار كوی نو تاسو هم انتظار كوئ

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ﴿١٣٥﴾ ع ٧ ١٧

پس زر به تاسو پوهه شئ | چه څوک دی | خاوندان | د لارے | سيدها | او څوک دی | چه سمه لار ئے بيامونده

ډېر زر به درته معلومه شي چه څوک په سمه لاره روان دی او څوک هدايت موندونكی دی .

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ډاکټر محمد دین

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة انبیاء په مکه کښې نازل شوې | (شروع) د الله په نوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښې ۱۱۲ آیتونه او ۷ رکوعګانې دي

شروع کوم د الله په نوم چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ۝١ مَا يَأْتِيْهِمْ

نزدے شو | خلقو ته | حساب د دوی | او دوی | په غفلت کښې دي | مخ اړوونکي دي | نه راځي دوی ته

خلقو د پاره د دوی (د خلقو د) حساب (وخت) رانزدے شو او دوی په غفلت کښې (پراته) مخ اړوونکي دي. دوی

مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ۝٢

هیڅ نصیحت | د دوی د رب له طرفه | نوے | مګر | دوی آوری هغه | او دوی | لوبې کوی

ته چه د دوی د رب له طرف نه نوے نصیحت راځي نو دوی آوری مګر داسے لکه چه دوی په لوبو اخته وي.

لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ هَلْ

غافله (دي) | زړونه د دوی | او | په پټه کوی | سازشونه | هغه خلق چه | ظالمان دي | (چه) نه دے

د دوی زړونه غافله دي او دا ظالمان پټ پټ مشورے کوی، چه دا خو هم

هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَأْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ۝٣

دا | مګر بنیادم دے | په شان ستاسو | پس آیا راځئ تاسو | جادو ته | او | تاسو | وینئ.

ستاسو په شان یو سړے دے نو آیا تاسو د جادو په دے خبرو پسے ځئ سره د دے چه په سترګو وینئ ګورئ

قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۖ وَهُوَ

دوئیل پیغمبر | زما رب | پوهیږی | په هره خبره | په آسمان کښې | او زمکه (کښې) | او هغه

پیغمبر ووئیل چه زما رب د آسمان او زمکے په هره خبرے باندے پوهیږی. او هغه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٤ بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍۭ بَلِ افْتَرٰىهُ

آوریدونکے | پوهه دے | بلکه | دوی وائی | د خیالات دي | د خوبونو | بلکه | له ځانه ئے جوړ کړے دے دا

هر څه آوری په هر څه پوهه دے. بلکه دوی (خو) وائی چه دا (قرآن) ګډ وډ خوبونه دي بلکه (پیغمبر) د ځانه

بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚ فَلْيَأْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ۝٥

بلکه | دے شاعر دے | پس راوړی دے مونږ ته | څه نخښه | لکه څنګه چه رالیږلے شوی وو په هغې | وړومبي پیغمبران

جوړ کړے دے بلکه دے یو شاعر دے. نو دے له پکار دی چه څه نخښه مونږ ته راوړی لکه څنګه چه پخوانی رسولان رالیږلے

مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝٦

نه وو راوړے ایمان | وړاندې له دوی نه | هیڅ یو کلی | چه هلاک کړی د مونږ هغوی | پس آیا دوی به | ایمان راوړی

شوی وو، د دوی نه وړاندې هم د کومو کلو خلق چه مونږ هلاک کړی دی هغوی خو ایمان نه وو راوړے نو آیا دا خلق به ایمان راوړی

وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ

او نه دی لیږلی مونږ (پیغمبران) | وړاندې له تا نه | مګر سړی | چه وحی به کوله مونږ | هغوی ته | پس پوښتنه وکړئ | د علم والو نه

او له تا نه وړاندې مونږ هم سړی پیغمبران چه وحی کوله مونږ ورته رالیږلی دی کوم چه په مونږ وحی لیږله که چرے تاسو په دے خبره

إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ۝٧ وَمَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا لَّا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ

کهٔ چیرے تاسو | نهٔ پوهیږئ | او نهٔ وو جوړ کړي مونږ دَ هغوئ | داسے جسم | چه نهٔ یې خوړو | طعام

نهٔ پوهیږئ نو دَ علم والؤ نه تپوس وکړئ. او مونږ دَ دے نبیانو داسے بدنونه نهٔ وو جوړ کړي چه ګني خوراک ونهٔ کړي

وَمَا كَانُوا خٰلِدِينَ ۝٨ ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَأَنْجَيْنٰهُمْ

او نهٔ | دوي وُو | همیشه اوسیدونکي | بیا | رښتینے کړه مونږ دوي سره | وعده | پس نجات ورکړو مونږ دوئ ته

کوي او نهٔ همیشه هغوئ ژوندي پاتے شوي دي بیا مونږ هغوئ سره خپله وعده رښتیا کړه نو هغوئ له او (نور)

وَمَنْ نَّشَآءُ وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ ۝٩ لَقَدْ أَنْزَلْنَآ

او هغه چا ته | چه غوښتل مونږ | او هلاک کړل مونږ | حد نه تیریدونکي | بیشکه | نازل کړے دے مونږ

چا له چه مو غوښتله مونږ نجات ورکړو او دَ حد نه تیریدونکي مو هلاک کړل (نهٔ خلقوا) مونږ په تاسو یو کتاب

إِلَيْكُمْ كِتٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝١٠ الربع

ستاسو طرف ته | یو کتاب (قرآن) | چه په هغے کښے | ستاسو ذکر دے | پس آیا تاسو نهٔ پوهیږئ

(قرآن) نازل کړے دے په کوم کښے چه تاسو دَ پاره نصیحت دے، نو آیا تاسو پوهیږئ نه!

وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَّأَنْشَأْنَا

او ډیر | برباد کړي دي مونږ | کلي | چه ؤو هغوي ظالمان | او پیدا کړل مونږ

او مونږ داسے ډیر کلي تباه کړل چه دَ هغے خلق ظالمان وو ، او دَ هغوئ نه

بَعْدَهَا قَوْمًا اٰخَرِينَ ۝١١ فَلَمَّآ أَحَسُّوا بَأْسَنَآ

پس له هغے نه | قومونه | نور | پس هر کله چه | دوي محسوس کړو | زمونږ عذاب

پس مو یو بل قوم راپیدا کړو ، نو هر کله چه هغوئ زمونږ عذاب ولیدلو

إِذَا هُمْ مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ۝١٢ لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوٓا إِلٰى

ناګهانه به دوي | له هغه کلي نه | تښتیدل | مهٔ تښتئ | او واپس شئ | په طرف

نو دَ هغه کلي نه په تیښته شروع شول (اوس) مهٔ تښتئ او کوم نعمتونه چه تاسو ته درکړے

مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ ۝١٣ قَالُوا

دَ هغه (سامان) | چه عیش به کولو تاسو په هغے کښے | او خپلو کورونو ته | شاید چه تاسو نه | تپوس وشي | دوي ووئیل

شوي وو هغے ته او خپلو کورونو طرف ته واپس راشئ شاید چه تاسو نه څهٔ تپوس وشي ؟ هغوي ووئیل

يٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظٰلِمِينَ ۝١٤ فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى

هائے افسوس! | بیشکه وو مونږ | ظالمان | پس همیشه وے | هم دا | چیغے دَ دوئ | تر دے چه

چه افسوس! بیشکه هم مونږ ظالمان وو. نو لګیا وو هم دَ غسے ئے چیغے وهلے تر دے چه هغوئ

جَعَلْنٰهُمْ حَصِيدًا خٰمِدِينَ ۝١٥ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ

کړل مونږ دوي | په شان دَ لَو شوي فصل | او په شان دَ مړاور | او نهٔ دے پیدا کړے مونږ | آسمان

مو دَ ریبلي شوي فصل او دَ مړاور په شان کړل. او مونږ آسمان او زمکه او څهٔ چه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿١٦﴾ لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ

او زمکه | او هغهٔ چه | دَ دِے په مينځ کښے دی | لو بے | کهٔ چرے غوښتلے مونږ | چه جوړه ډِ کړو

دَ دِے په مينځ کښے دی لو بې تماشه مونږ ده جوړه کړے. کهٔ چرے مونږ لوبه تماشه جوړول

لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿١٧﴾ بَلْ

لوبه | نو خامخا به مونږ جوړه کړے وه هغه | له خپل ځان نه | کهٔ چرے | ؤو مونږه | کوونکی | بلکه

غوښتلے نو هم دَ خپل ځان نه به مو جوړه کړے وے کهٔ مونږ خامخا داسے کولے. بلکه

نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ؕ

مونږ غورځوو | حق | په باطل باندے | پس هغه دَ دهٔ سر ماتوی | پس ناګهانه هغه | ورک شی

مونږ خو حق دَ باطل دَ پاسه ورغورځو نو هغه دَ هغے سر ماتوی نو هغه (باطل) ورک شی

وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿١٨﴾ وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

او تاسو له | هلاکت دے | له هغه څهٔ نه | چه تاسو ئے بيانوئ | او هم دَ دهٔ دی | څوک چه | په آسمانونو کښے

او څهٔ چه تاسو (دروغ) بيانوئ هغه تاسو دَ پاره بربادی ده او په آسمانونو او زمکه کښے چه څهٔ دی ټول دَ

وَالْاَرْضِ ؕ وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿١٩﴾ۚ

او زمکه کښے دی | او څوک چه | دَ دهٔ سره دی | سرکشی نهٔ کوی | دَ دهٔ له عبادت نه | او نهٔ ستړی کيږی

هغهٔ دی او کوم (فرښتے) چه هغهٔ سره دی، نهٔ دَ هغهٔ دَ عبادت نه سرکشی کوی او نهٔ ستړی کيږی

يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمِ اتَّخَذُوْٓا

هغوئ تسبيح وائی | شپه | او ورځ | سستی نهٔ کوی | آيا | دوی نيولی دی

ورځ او شپه دَ الله تعالیٰ تسبيح کوی او سستی بالکل نهٔ کوی. آيا دے خلقو دَ زمکے په مخ

اٰلِهَةً مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿٢١﴾ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ

(نور) معبودان | له زمکے نه | (چه) دوی | به بيا ژوندی کوی دوی | کهٔ چرے وے | په دے کښے

داسے ځينے نه معبودان نيولی دی چه څوک راپيدا کولے شی ؟ کهٔ چرے په زمکه او آسمان کښے

اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ

(نور) معبودان | سيوا دَ الله نه | نو دواړه (زمکه او آسمان) به تباه شوی وو | پس پاک دے | الله | مالک | دَ عرش

دَ الله تعالیٰ نه سيوا نور معبودان وے نو دواړه به تباه شوی وو، نو کومے خبرے چه خلق دَ هغهٔ په حقله بيانوی

عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ ﴿٢٣﴾

له هغه څهٔ نه | چه دوی ئے بيانوی | تپوس به نهٔ شی کيدے | له دهٔ نه | څهٔ چه دے وکړی | او هم له دوی نه | به تپوس کيدے شی

دَ عرش مالک الله تعالیٰ دَ هغے نه پاک دے. هغه چه هر څهٔ کوی نو پښتنه ترے نه نهٔ شی کيدے او دَ خلقو نه به تپوس پښتنه کيږی

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا

آيا | دوی نيولی دی | دَ الله نه سيوا | (نور) معبودان | ووايه | راوړئ تاسو

آيا دوی دَ الله تعالیٰ نه سيوا (ځان له) نور معبودان راپيدا کړی دی؟ تهٔ ووايه چه تاسو خپل يو دليل

بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ۗ

خپل دلیل | هم دا | ذکر دے | دَ هغه چا چه | ما سره دی | او ذکر دے | دَ هغه چا چه | وړاندې له ما نه وو

خو را ښکاره کړئ ، دا دَ هغه خلقو ذکر دے چه ما سره دی ، او دَ هغو کوم چه له ما نه وړاندې وو

بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٤﴾

بلکه | اکثر له دوی نه | نهٔ پوهیږی | په حق | پس دوی | مخ اړونکی دی

خو په دوی کښې اکثر خلق په حقه خبره نهٔ پوهیږی نو (حکم) دَ هغې نه مخ ګرځوی

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ

او نهٔ دے لیږلے مونږ | له تا نه وړاندې | څوک | رسول | مګر | مونږ به وحی کوله

او مونږ له تا نه وړاندې هیڅکله داسے یو رسول نهٔ دے لیږلے چه هغهٔ ته مو دا وحی کړے نهٔ

اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿٢٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ

دَ هغهٔ طرف ته | دا چه شته دے بل څوک معبود | سیوا زما نه | پس عبادت کوئ زما | او دوی وائی | نیولے دے

دی چه زما نه سیوا بل معبود نشته نو صرف هم زما عبادت کوئ . او دوی وائی چه رحمٰن

الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ۭ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ ۙ

رحمٰن | اولاد | هغه پاک دے | بلکه | بندګان دی | عزتمند

(رحمٰن الله) اولاد نیولے دے حال دا چه هغه دَ دے نه پاک دے ، بلکه (فرښتے خو) دَ هغهٔ ډیر عزتمند بندګان دی

لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ يَعْلَمُ

نهٔ وړاندې کیږی دَ ګل له دهٔ نه | په هیڅ خبره کښې | او دوی | په حکم دَ هغهٔ | عمل کوی | هغه پوهیږی

دَ هغهٔ نه وړاندې خبره قدرت نهٔ شی کولے او دَ هغهٔ په حکم پوره پوره عمل کوی . هغهٔ ته معلوم دی

مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا

په هغه څه | چه په وړاندې دَ دوی دی | او په هغه څه چه دَ دوی ورُوستو دی | او سفارش به نهٔ کوی | مګر

هر څهٔ چه دَ دهٔ په وړاندې دی ، او هر څهٔ چه ترے نه شاته دی او هغوئ دَ چا سفارش هم نهٔ شی کولے

لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿٢٨﴾

هغه چا دَ پاره چه | هغه پرے راضی شوے وی | او دوی | دَ هغهٔ دَ ویرے نه | ویریدونکی دی .

سیوا دَ هغه چا نه دَ چا نه چه الله تعالیٰ راضی دی او هغوئ ټول دَ الله دَ هیبت نه همیشه په ویره وی

وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ

او څوک چه | وائی | له دوی نه | چه بیشکه زهٔ | معبود یم | دَ هغهٔ نه سیوا | پس دا ئے له به

او په دوی کښې چه څوک داسے ووائی چه دَ هغهٔ نه سیوا زهٔ معبود یم نو هغهٔ له به مونږ

نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ ۧ اَوَلَمْ يَرَ

مونږ سزا ورکړو | دَ دوزخ | هم دغه شان | مونږ سزا ورکوو | ظالمانو ته | آیا نهٔ دی کتلی

دَ دوزخ سزا ورکړو ، مونږ ظالمانو له هم دغه شان سزا ورکوو - آیا کافرانو ته دا خبره

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا

هغو خلقو چه | كافران دي | چه | آسمان | او زمكه | دوه

معلومه نه ده ، چه آسمانونه او زمكه په خپل مينځ كښې ملاؤ دوه ،

رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ؕ

ملاؤ شوي | بيا جُدا جُدا كړل مونږ دواړه | او پيدا كړو مونږ | له اوبو نه | هر څيز | ژوندے

بيا مونږ هغه جُدا جُدا كړل . او مونږ د اوبو نه هر ژوندے څيز راپيدا كړے دے .

اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَجَعَلْنَا فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ

پس آيا دوي ايمان نه راوړي | او پيدا كړل مونږ | په زمكه كښې | غرونه | چه | چرته ښيښته (نه) شي

نو آيا دوي ايمان نه راوړي . او مونږ په زمكه كښې غرونه جوړ كړل د پاره د دے چه هغه په دوي

بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿٣١﴾

په دوي | او جوړ كړے مونږ | په دے كښې | ارتے | لارے | د پاره د دے چه دوي | لار بيا مومي .

ونه خوځوي او په دے زمكه كښے مونږ ارتے ښيسته لارے جوړے كړي دي چه خلق پرے لار هم بيا مومي

وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ۚ وَّهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿٣٢﴾

او جوړ كړو مونږ | آسمان | يو چت | محفوظ | او دوي | د دے د نښونه | مخ اړونكي دي

او مونږ آسمان يو محفوظ چت جوړ كړو ، په دے باندې هم دوي (آسماني) نښے په خاطر كښے نه راولي .

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ

او هم هغه دے چا چه | پيدا كړله | شپه | او ورځ | او نمر | او سپوږمئي | هر يو

او الله تعالى هغه ذات دے چه شپه او ورځ او نمر او سپوږمئي ئے پيدا كړي دي . هر يو په

فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ

په آسمان كښے | لامبو وهي | او نه دے وركړے مونږ | هيڅ يو بنيادم ته | له تا نه وړاندې | هميشه والے

خپله خپله دائره كښے لامبو وهي ، او مونږ له تا نه وړاندې هم څوک بشر د هميشه پاتے كيدو د پاره نه دے جوړ كړے

اَفَاۡئِنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ

پس آيا كه چرے | وفات شے ته | نو دوي | هميشه پاتے كيدونكي دي؟ | هر يو نفس | څكونكے دے | (مزه) د مرگ

نو آيا كه ته وفات شوے نو داخلق به دلته هميشه پاتے شي ؟ هر يو نفس له به د مرگ مزه څكل وي

وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ؕ وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَاِذَا

او مونږ آزمايو تاسو | په سختئ | او په آسودگئ | په طريقه د امتحان | او زمونږ طرف ته | به بيرته راگرځولے شئ | او هر كله چه

او مونږ په طور د امتحان تاسو په سختئ او راحت سره آزمايو او زمونږ اړخ ته به تاسو ټول راپسته كيږئ . او هر كله

رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا

د وويني تا | هغه خلق چه | كافران دي | نو نه كوي دوي تا سره | مگر مذاق | آيا هم دا دے

چه دا كافران تا دوويني نو نو رڅه نه خو ټوقے درپورے شروع كړي ، چه آيا دا هغه

الَّذِیْ یَذْکُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٦﴾

هغه کس | چه ذکر کوی | ستاسو د معبود ؟ | او هغه (خو) | د ذکر | د رحمٰن نه | منکر دی -

(سپکې) کې چه ستاسو د معبودانو ذکر (په بدۍ) کوی او حال دا چه دوی په خپله د رحمان د یاد نه انکار کوی

خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِیْكُمْ اٰیٰتِیْ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٣٧﴾

پیدا شوی دے | انسان | له تندۍ نه | ډیر زر به زه وښایم تاسو ته | خپلې نخښې | پس تاسو مونږ نه د تلوار مطالبه مه کوی

د انسان په پیدائښت کښې تندی اینودے شوے ده، زه به ډیر زر تاسو ته خپلې نخښې وښایم پس تاسو تندی مه کوی

وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿٣٨﴾

او دوی وائی | کله به وی | دا | وعده | که چرے | یئ تاسو رښتینی ؟

او دوی وائی چه دا وعده به کله پوره کیږی که تاسو رښتینی یئ ؟

لَوْ یَعْلَمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا حِیْنَ لَا یَكُفُّوْنَ عَنْ وُّجُوْهِهِمُ

کاش! چه پوهه شی | هغه خلق چه | کافران دی | هغه وخت چه | نه به شی لرے کولے دوی | له مخونو خپلو نه

کاش! منکرانو ته هغه وخت معلوم وے چه دوی به نه د خپلو مخونو نه اور منع کولے

النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ یُنْصَرُوْنَ ﴿٣٩﴾ بَلْ

اور | او نه | له شا گانو خپلو نه | او نه به دوی ته | مدد ورکولے شی | بلکه

شی او نه له خپلو شا گانو نه او نه به ورته هیڅ قسم له امداد رسیدلے شی نو دغه

تَاْتِیْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ رَدَّهَا وَلَا

راځی به دوی | ناګهانه | چه هغه به دوی وارخطا کړی | پس دوی به طاقت نه شی لرلے | د دفع کولو د دے | او نه

نه خو دغه (اور) به پرے ناګهانه راشی او دوی به حیرانه کړی، نو بیا نه به هغه (اور) لرے کولے شی او نه به

هُمْ یُنْظَرُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

به دوی له | مهلت ورکولے شی | او یقیناً ټوقے وشوے | د پیغمبرانو سره | له تانه وړاندې

ورته (د توبے ایستلو) مهلت ورکولے شی۔ او له تانه وړاندې هم د پیغمبرانو سره ټوقے شوی دی

فَحَاقَ بِالَّذِیْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

پس راپریوتلو | په هغه کسانو چه | خندا ګانے به کولے | له دوی نه | هغه (عذاب) | په کوم پورے چه

نو چا چه ورپورے خندا ګانے کولے د هغوی نه هم هغه عذاب راتاؤ شو په کوم پورے چه به

یَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤١﴾ قُلْ مَنْ یَّكْلَؤُكُمْ بِالَّیْلِ وَالنَّهَارِ ع

دوی خندا ګانے کولے | دوایه | څوک | حفاظت کوی ستاسو | د شپے | او د ورځے

هغوی خندل۔ (اے پیغمبره!) ورته ووایه چه د رحمٰن (د عذاب) نه څوک ستاسو شپه او ورځ

مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٢﴾

(له عذاب) د رحمان نه | بلکه | دوی | د خپل رب له ذکر نه | مخ ونه اړولی دی -

حفاظت کوی (که هغه وغواړی) خبره دا ده چه دوی د خپل رب د یاد نه مخونه اړوی

أَمْ لَهُمْ آلِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا ۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ

يا د دوی | (نور) معبودان دي | چه د دوئ حفاظت کوي | سيوا زموږ نه ؟ | دوی نه شي کولے

آيا دوئ سره زموږ نه سيوا داسے معبودان شته چه د دوئ حفاظت وکړي ؟ هغوئ خو د خپلو ځانونو

نَصْرَ أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا يُصْحَبُونَ ﴿٤٣﴾ بَلْ

مدد | د خپل ځان | او نه به د دوئ | زموږ له طرف نه | ملګرتيا کولے شي | بلکه

امداد هم نه شي کولے او نه زموږ په مقابله کښے بل څوک د هغوئ ملګرتيا کولے شي. موږ

مَتَّعْنَا هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ

موږ سامان (د ژوند) ورکړو | دوی ته | او د دوی پلارانو ته | تر دے چه | اوږده شوه | په دوی باندې

دوئ او د دوئ پلار نيکه له د دُنيا نعمتونه ورکړل ، تر دے چه په دوئ باندے يوه اوږده

الْعُمُرُ ۗ أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا

موده د عمر | پس ايا دوی نه ګوری | چه موږ راځو | زمکے ته | چه کموو موږ دا

موده تيره شوه ، ايا دوی نه ګوری چه موږ (د دوئ د قبضے لاندې) زمکه (د مسلمانانو په فتوحاتو سره) د هر طرف

مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾ قُلْ إِنَّمَا أُنذِرُكُم

د ډيرے له طرفونو نه | پس ايا دوی | غالب کيدونکي دي | دوايه | بيشکه | زه ويروم تاسو

نه راتنګوو ، نو ايا اوس هم دوئ غلبه بيا مونده شي ؟ (اے پيغمبره) ته ورته ووايه چه زه خو تاسو صرف د وحي

بِالْوَحْيِ ۚ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَاءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾

د وحي په ذريعه | او نه اوري | کانړه | بلنه | هر کله چه | دوی ويرولے شي

په ذريعه (د الله د نافرمانئ نه) ويروم او کانړه چه څه وخت ويرولے شي نو دوئ خو هيڅ اواز نه اوري

وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ

او که چرے | ورسيږي دوی ته | يوه چپه | د عذاب | ستا د رب | نو دوی به ضرور وائي

او که چرے ستا د رب له طرف نه دوی ته د عذاب يوه چپه راشي ، نو دوئ وائي

يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ

اے بدبختي زموږ ! | بيشکه وو موږ | ظالمان | او | موږ به کيږدو | تلے

هاۓ زموږ په بدبختي ! بيشکه چه موږ به په ځانونو ظلم کولو ، او موږ به د قيامت په ورځ د

الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ۖ

د انصاف | په ورځ | د قيامت | پس ظلم به نه شي کولے | په هيڅ کس | د هيڅ څيز

انصاف تلے کيږدو . نو په چا به ذره هم ظلم نه شي کولے

وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ

او که چرے | وی (عمل) | په مقدار | د دانے | د اوري (هم) | نو موږ به راوړو | هغه

او که (د چا عمل) د اوري د دانے هومره وړوکے وي نو هم به مخے راوړاندے کړو

وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ

او کافي يو | موږ ده | حساب کوونکي | او بېشکه | ورکړے وو موږ | موسیٰ | او هارون ته

او حساب اخستو له موږ يوازے کافي يو . او موږ موسیٰ او هارون ته (تورات) ورکړو

الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ الَّذِيْنَ

په حق او باطل کښې فرق کوونکے (کتاب) | او رڼا | او | ذکر | پرهېزګارانو ده پاره | کوم خلق چه

چه په حق او باطل کښې فرق کوونکے او رڼا ده او پرهېزګارانو ده پاره نصيحت دے ، هغه خلقو ده پاره

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ

وېرېږي | له خپل رب نه | بے ليدلو | او دوی | له قيامت نه

چه د خپل رب نه غائبانه وېرېږي او هغوی د قيامت نه هم وېره

مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ اَفَاَنْتُمْ

وېرېدونکي دي | او دا (قرآن) | ذکر دے | برکت والا | چه موږ نازل کړے دے دا | پس ايا تاسو

کوي . او دا (قرآن) بابرکته نصيحت دے کوم چه موږ نازل کړے دے نو ايا تاسو د

لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ

د دے نه | انکار کوونکي يئ ؟ | او بېشکه | ورکړے وو موږ | ابراهيم ته (هم) | د ده هدايت

دے نه انکار کوئ ؟ او موږ ابراهيم ته له دے نه وړاندې هدايت ورکړے

مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿٥١﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ

له دے نه وړاندې | او موږ وو | له دے نه | ښهٔ واقف | هر کله چه | ده وويل | خپل پلار

وو او موږ له دے نه ښهٔ واقف وو . هر کله چه ده خپل پلار او خپل

وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ

او | خپل قوم ته | څهٔ دي دا | صورتونه | هغه چه

قوم ته وويل چه دا څهٔ (واهيات) شکلونه دي چه د دے د عبادت

اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا

تاسو | په هغے | مجوران يئ | دوی وويل | موږ موندلی وو | خپل پلار نيکهٔ | چه د هغے

د پاره تاسو ډېرے نګولی دي . هغوی ورته وويل چه موږ خو خپل پلاران نيکونه د دوی په

عٰبِدِيْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ

عبادت کوونکي وو | ده وويل | بېشکه | وئ تاسو | او | ستاسو پلار نيکهٔ

عبادت کښے اخته ليدلی دي . ابراهيم وويل چه تاسو او ستاسو پلاران نيکونه هم په ښکاره

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ

په ګمراهئ کښے | ښکاره | دوی وويل | آيا تا راوړے ده موږ ته | رښتينے خبره | يا ته يے

ګمراهئ کښے پراتهٔ وو . هغوی ورته وويل چه آيا تاسو موږ ته حقه خبره راوړے ده که هسے

مِنَ اللّٰعِبِیْنَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

له ټوقو کوونکو نه | دهٔ ووئیل | بلکه ستاسو رب | رب دے | د اسمانونو

ټوقے ټقالے راسره کوئے؟ ابراهیم ووئیل چه (دغه ټوقے نه ۹) ستاسو رب خو د اسمانونو او د زمکے

وَ الْاَرْضِ الَّذِیْ فَطَرَهُنَّ ۖ وَ اَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ

او | د زمکے | کوم چه | پیدا کړل دوی | او | زهٔ | په دے بانډے

رب دے چه دغه ټول ئے راپیدا کړل. او زهٔ په دے خبره بانډے

مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿٥٦﴾ وَ تَاللّٰهِ لَاَكِیْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ

له ګواهانو نه یم | او قسم په الله | چه زهٔ به خامخا تدبیر وکړم | ستاسو د بتانو | پس له دے نه چه

ګواه یم. او د الله قسم هر کله چه تاسو (د دوی نه) لاړ شئ نو زهٔ به ستاسو

تُوَلُّوْا مُدْبِرِیْنَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِیْرًا

مخ وګرځوئ تاسو | شا کوونکی | پس کړل دهٔ هغه | ټکړے ټکړے | مګر | د لوئے (بت)

بتانو سره یو چال چلوم. نو (ابراهیم) هغه بتان ټوټے ټوټے کړل خو یو لوئے بُت ئے ترے نه

لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَیْهِ یَرْجِعُوْنَ ﴿٥٨﴾ قَالُوْا مَنْ

د دوی | شاید چه دوی | د دهٔ طرف ته | رجوع وکړی. | دوی ووئیل | چا

سلامت پریښودو شاید چه خلق هغهٔ ته رجوع وکړی، هغوئ ووئیل چه دا کار زمونږ

فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا

کړے دے | دا کار | زمونږ د معبودانو سره | بیشکه دے | د ظالمانو نه دے | دوی ووئیل

د معبودانو سره چا کړے دے؟ بیشکه هغه ډیر غټ ظالم دے، چا ځینې ووئیل

سَمِعْنَا فَتًى یَّذْكُرُهُمْ یُقَالُ لَهٗۤ اِبْرٰهِیْمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا

مونږ آورېدلی دی | یو ځوان نه | چه ذکر کوی د دوی | چه ویلے شی | هغهٔ ته | ابراهیم | دوی ووئیل

چه مونږ د یو ځلمی د خلے نه د دوئ بدی آورېدلے ده چه هغهٔ ته ابراهیم ویلے شی، خلقو ووئیل

فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰۤى اَعْیُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ یَشْهَدُوْنَ ﴿٦١﴾

پس راولئ | دے | د سترګو د وړاندے | د خلقو | شاید چه دوی | ګواهی ورکړی

چه بیا دهٔ نو هغه د ټولو په مخکښے راولئ چه هغوی پرے ګواهان شی.

قَالُوْٓا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا یٰۤاِبْرٰهِیْمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ

دوی ووئیل | آیا هم تا | کړے دے | دا کار | زمونږ د معبودانو سره | اے ابراهیم | دهٔ ووئیل (نه) بلکه

هغوئ پوښتنه وکړه چه اے ابراهیم! آیا زمونږ د معبودانو سره دا کار تا کړے دے؟ دهٔ ووئیل نه

فَعَلَهٗ ۖ كَبِیْرُهُمْ هٰذَا فَسْئَلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا یَنْطِقُوْنَ ﴿٦٣﴾

دا به کړے وی | د دوی دے لوئے (بت) | پس پوښتنه وکړئ له دوئ | که چرے | دوی خبرے کوی

بلکه دا کار د دوئ دے لوئے (بت) کړے دے که چرے دوئ خبرے کوی نو د دوئ نه پوښتنه وکړه

فَرَجَعُوٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ

پس رجوع وکړه دوی | خپلو ځانو ته | بیا دوی وویل | بیشکه یئ تاسو | ظالمان | بیا

هغه کله چه هغوئ سوچ وکړو په خپل مینځ کښې نو وے وئیل چه بیشکه هم تاسو بے انصافه یئ . بیا هغوئ (د

نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٥﴾

بنکته کړل دوی | سرونه خپل | بیشکه | ته پوهیږے | چه دا بتان | خبرے نه کوی

شرم نه) خپل سرونه بنکته کړل (او دے وئیل) چه تاسو خو معلومه ده چه دوی خبرے نه کوی

قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا

وئے فرمائیل | پس آیا تاسو عبادت کوئ | د الله نه سیوا | د هغه څه | چه نه نفع درکوی شی تاسو ته | د څه څیز

ابراهیم ورته ووئیل چه آیا تاسو د الله تعالیٰ نه سیوا د داسے څیزونو عبادت کوئ چه نه فائده درسولے شی

وَّلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او نه زیان دررسولے شی تاسو ته | افسوس دے | په تاسو | او په هغه څه | چه تاسو ئے عبادت کوئ | سیوا | د الله

او نه زیان درکولے شی . افسوس دے په تاسو او په هغو بتانو د کوم چه تاسو د الله تعالیٰ نه سیوا عبادت کوئ

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

پس آیا تاسو عقل نه لرئ ؟ | دوی ووئیل | وسوزوئ دے | او مدد وکړئ | د خپلو معبودانو | که چرے یئ تاسو

آیا تاسو نه پوهیږئ ؟ هغوئ ووئیل چه دے (په اور کښې) وسوزوئ او د خپلو معبودانو عبادت وکړئ که تاسو څه کول

فٰعِلِيْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾

کوونکی | ووئیل مونږه | اے اوره! | شه ته | یخ | او سلامتیا | په ابراهیم باندې

غواړئ . مونږ حکم ورکړو چه اے اوره! ته د ابراهیمؑ د پاره یخ شه او بے ضرره شه .

وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنٰهُ

او دوی اراده وکړه ده سره | د فریب | پس کړل مونږ دوی | ناکامه | او نجات ورکړو مونږ ده ته

او خلقو د هغه بدی وغوښتله خو مونږ ورته (هغه خلق) ناکامیابه کړل . او مونږ هغه او لوطؑ دواړه

وَلُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا

او لوطؑ ته | د هغه زمکے طرف ته | چه برکت اچولے دے مونږ | په هغے کښې | د پاره د عالمونو | او ورکړل مونږ

بچ کړو ویستل داسے ملک ته چه مونږ د ټولے دُنیا د خلقو د پاره برکتی کړے دے . او مونږ ابراهیمؑ ته اسحاق

لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ﴿٧٢﴾

ده ته | اسحاقؑ | او یعقوبؑ | د انعام په طور | او هر یو | مونږ جوړ کړو | نیک

(ځوئے) ورکړو او د دے نه علاوه یعقوب (نمسے) هم د انعام په طور او ټول مونږ نیکان کړل .

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ فِعْلَ

او جوړ کړل مونږ دوی | پیشوایان | دوی به لاره ښودله | زمونږ په حکم | او وحی وکړه مونږ | د دوی طرف ته | د کولو

او هغوئ مونږ (ټولو) خلقو پیشوایان کړل چه زمونږ په حکم به ئے (خلقو ته) د دین لار ښودله او هغوئ ته مونږ د وحی په ذریعه د

الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا

دَ نيکيانو | او دَ قائمولو | دَ مونځ | او دَ ورکولو | دَ زکٰوة | او | ؤو دوی | زمونږ

نيکئ دَ کارونو کولو ، دَ مونځ کولو او دَ زکٰوة دَ ورکولو حکم ورولیږلو ، او هغوئ هم زمونږ عبادت

عٰبِدِيْنَ ۝٧٣ وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ

عبادت کوونکی | او لوط ته | ورکړو مونږ | حکمت | او علم | او خلاصه ورکړه مونږ ده ته

کولو . او لوط ته مونږ حکمت او علم ورکړے ؤو ، او دَ هغه کلی نه مو بچ

مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ۗ اِنَّهُمْ كَانُوْا

له هغه کلی نه چه | کول به ئے | ناپاک کارونه | بیشکه دوی | وو

راؤویستلو دَ کوم اوسیدونکی چه دَ ګنده کارونو عادت وو . بیشکه هغه خراب او بدکاره

قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ۝٧٤ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ۗ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝٧٥

خلق ډیر خراب | نافرمانه | او داخل کړو مونږ دے | په خپل رحمت کښے | بیشکه دے | له صالحانو نه وو

قوم وو . او هغه (لوط) مونږ په خپل رحمت کښے داخل کړو یقیناً هغه په نیکانو خلقو کښے شامل

وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ

او (یاد کړه) نوح | هر کله چه ده دعا وکړه | له دے نه وړاندے | پس قبوله کړه مونږ | دَ ده (دعا) | پس خلاص ورکړو مونږ ده ته

وو . او له دے نه وړاندے هر کله چه نوح آواز وکړو نو مونږ دَ هغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه او دَ هغه

وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۝٧٦ وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ

او دَ ده کور والو ته | له غم | لوئے نه | او مونږ مدد وکړو ده ته | له هغه قوم نه

خاندان دَ ډیر لوئے غم نه خلاص کړل . او مونږ دَ نوح مدد له دَ هغه خلقو نه واخستو

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۗ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ

کوم چه | دروغ وګڼل | آیتونه زمونږ | بیشکه دوی وو | خلق | خراب | پس غرق کړل مونږ دوی

چه زمونږ حکمونه ئے دروغ ګڼل ، بیشکه چه دغه خلق ډیر خراب خلق وو ، نو مونږ دوی

اَجْمَعِيْنَ ۝٧٧ وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِي الْحَرْثِ اِذْ

ټول | او داؤد | او سلیمان | هر کله چه دوی فیصله کوله | دَ پټی په حقله | هر کله چه

ټول غرق کړل . او داؤد او سلیمان علیهما السلام هم یاد کړه ، هر کله چه دوی دَ پټی په معامله کښے فیصله

نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ

څریدلے وے | په هغه کښے | بیزے | دَ خلقو | او ؤو مونږ | دَ فیصلے دَ دوی

کوله په کوم کښے چه دَ یو ے ډلے بیزے څریدلے وے ، او مونږ ته دَ هغوئ فیصله

شٰهِدِيْنَ ۝٧٨ فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا

لیدونکی | پس پوهه ورکړه مونږ دَ دے | سلیمان ته | او هر یو له | ورکړو مونږ

ښکاره وه ، نو مونږ دَ هغے فیصلے پوهه سلیمان ته ورکړه ، او حکمت او علم خو مونږ

حُكْمًا وَّعِلْمًا ۫ وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ

حکمت | او علم | او تابع کړي وو موږ | سره | د داؤد | غرونه | چه دوی به تسبیح کوله

هر یو ته ورکړي وو . او موږ داؤد سره غرونه تابع کړي ووچه هغه (غرونو) او مارغانو

وَالطَّيْرَ ؕ وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ

او مارغان (هم) | او وو موږ | کوونکي | او ښودلې وو موږ ده ته | جوړول | د زغرو | تاسو د پاره

به زموږ پاکي بیانوله او دا کار موږ (په خپل قدرت) کړي وو او موږ هغه ته د زغرو جوړول ستاسو (د فائدې)

لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ﴿٨٠﴾

چه بچ کړي تاسو | ستاسو د جنګ نه | پس آیا | تاسو | شکر کوونکي یئ

د پاره ښودلې وو چه تاسو په جنګونو کښې (د نقصانونو نه) بچ کړي نو آیا تاسو (زموږ) شکریه ادا کوئ ؟

وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖۤ اِلَى الْاَرْضِ

او (تابع موکړه) سلیمان لره | هوا | تیزه | چه چلیده به | په حکم د ده | په طرف د زمکې

او موږ د سلیمان د پاره تیزه هوا هم تابع کړې وه چه د هغه په حکم به هغې زمکې طرف ته

الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿٨١﴾ وَ

هغه چه | برکت اچولے د موږ | په هغې کښې | او یو موږ | په هر څیز باندې | پوهه | او

چلیده په کومه کښې چه برکتونه ایښي وو . او موږ ته خو هر څه معلوم دي . او

مِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا

له شیطانانو نه | هغه چه | غوپې به ئې وهلې | ده د پاره | او کولو به دوی | کار

په شیطانانو کښې داسې هم وو چه د هغه د پاره به ئې غوپې وهلې او د دې نه علاوه نور کارونه

دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى

د دې نه سیوا (هم) | او وو موږ | د دوی | محافظ | او ایوب | هرکله چه ده آواز وکړو

به ئې هم کول ، او موږ به د هغوی حفاظت کولو . او ایوب را یاد کړه چه خپل رب ته ئې زاري

رَبَّهٗۤ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٨٣﴾

خپل رب ته | چه بیشکه | رسیدلې دے ما ته | تکلیف | او ته | زیات رحم کوونکې یئ | د ټولو رحم کوونکو نه

وکړه ، چه ما ته تکلیف را رسیدلے دے او ته د ټولو نه زیات رحم کوونکے یې .

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ

پس قبوله کړه موږ | د ده دعا | پس لرې کړو موږ | چه په هغه وو | تکلیف | او ورکړل موږ ده ته

نو موږ د هغه دعا قبوله کړه او د هغه تکلیف مو لرې کړو او هغه ته مو خپله کورنۍ واپس

اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى

د ده کور والا | او په شان د دوی | د دوی سره | (په طور د) رحمت | د خپل طرف نه | او نصیحت

کړه او د دوی په شان نور خلق هم ، په خپل رحمت سره او چه د عبادت کوونکو

لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۴﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ ؕ كُلٌّ

عبادت کوونکو دپاره | او (یاد کړه) اسماعیل | او ادریس | او ذوالکفل | هر یو

دپاره نصیحت وی ۔ او اسماعیل او ادریس او ذالکفل (یاد کړه) ، دا ټول له

مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهُمْ

له صبر کوونکو نه وو | او داخل کړل مونږ دوی | په خپل رحمت کښې | بیشکه دوی

صبر کوونکو نه ؤو ، او دوی مونږ په خپل رحمت کښې داخل کړل ، بیشکه چه دغه ټول نیکان

مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ

له صالحانو نه وو | او (یاد کړه) مچھی والا (یونس) | هر کله چه دے لاړو | په غصه کښې | پس ده خیال وکړو

خلق وو ۔ او مچھی والا (یونس) یاد کړه ، څهٔ وخت چه هغه خفه قهر یدلے روان شو او داخیال ئے وکړو

اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ

چه هیڅ کله به تنګسیا رانهٔ وګو | په دهٔ | پس دهٔ آواز وکړو | په تیارو کښې | چه نشته دے بل څوک معبود | سیوا الله تا نه

چه مونږ به پرے تنګسیا رانهٔ ولو ، نو په تورو تیارو کښې ئے آواز وکړو چه (اے خدایه) ستا نه بغیر بل معبود

سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۷﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ

پاک یې ته | بیشکه زهٔ شوم | له ظالمانو نه | پس قبوله کړه مونږ | د دهٔ دعا | او مونږ نجات ورکړو دهٔ ته

نشته ته پاک یې بیشکه چه هم زهٔ زیاتی کوونکے یم ۔ نو مونږ د هغهٔ دعا قبوله کړه او هغه مو د غم نه

مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ نُـنْجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾ وَزَكَرِيَّآ اِذْ

له غم نه | او دغه شان | مونږ نجات ورکوو | مؤمنانو ته | او (یاد کړه) زکریا | هر کله چه

خلاص کړو او مونږ ایمان دار خلق هم دغسے د غم نه خلاصوو ۔ او زکریا (یاد کړه) هر کله چه

نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ

دهٔ آواز وکړو | خپل رب ته | اے زما ربه ! | مهٔ پریږده ما | یوازے | او ته یې | د ټولو نه بهتر

هغهٔ د خپل رب نه دعا وکړه چه اے زما ربه ! ما یوازے (لا وارث) پرے نهٔ ږدې او هم ته د ټولو نه بهترین

الْوٰرِثِيْنَ ﴿۸۹﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۡ وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَاَصْلَحْنَا

وارث | پس قبوله کړه مونږ | د دهٔ دعا | او ورکړو مونږ | دهٔ ته | یحیٰی | او اصلاح وکړه مونږ

وارث یې ۔ پس مونږ د هغهٔ دعا قبوله کړه او ورته مو یحیٰی وبخښلو او د دهٔ ښځه مو د دهٔ دپاره

لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا

د دهٔ دپاره | د دهٔ د ښځه | بیشکه دوی به | منډے وهلے | په نیکو کښې | او دوی به بللو مونږ

د اولاد قابله کړه ، بیشکه دے خلقو به د نیکئ په کارونو کښې د تیزئ نه کار اخستلو او مونږ به ئے په امید

رَغَبًا وَّرَهَبًا ؕ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ﴿۹۰﴾ وَالَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ

په شوق | او په ویره | او وو دوی | مونږ ته | عاجزی کوونکی | او هغه بی بی (مریمؑ) | چه هغې حفاظت وکړو

او ویره سره بللو او زمونږ په وړاندې به ئے عاجزی کوله او د هغه ښځے (مریمؑ) ذکر وکړه چا چه خپل

فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلْنٰهَا وَابْنَهَآ

دَ خپل شرمګاه | پس پوکه وکړه موږ | په هغې کښې | دَ روح خپل | او جوړه کړه موږ هغه | او دَ هغې خوئے

ننوم) ناموس بچ کړے وو نو موږ په هغې کښې خپل روح ورپوکلو او هغه بنځه او دَ هغې خوئے مو دَ ټولے دُنیا

اٰيَةً لِّلْعٰلَمِينَ ﴿٩١﴾ إِنَّ هٰذِهٖٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّأَنَا

نخښه | دَ پاره دَ عالمونو | بیشکه | دا | ستاسو امت دے | اُمت | یو | او زهٔ

دَ پاره یوه نخښه وګرځوله. بیشکه ستاسو دا امت هم یو اُمت دے ، او زهٔ ستاسو

رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ ﴿٩٢﴾ وَتَقَطَّعُوٓا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ ۖ كُلٌّ إِلَيْنَا

ستا رب یم | پس زما عبادت کوئ | او دوی ټکړے ټکړے کړو | خپل کار | په خپل مینځ کښے | هر یو | زمونږ طرف ته

رب یم پس تاسو هم زما عبادت کوئ او دے خلقو په خپل دین کښے اختلافات پیدا کړل (مګر) هر یو له زمونږ

رٰجِعُونَ ﴿٩٣﴾ فَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ

رجوع کوونکے دے | نو څوک چه | عمل کوی | دَ نیکئ | او هغه ایماندار وی | نو ناقدری به نه کیږی

طرف ته واپس راتلل دی ، نو څوک چه دَ نیکئ کارونه کوی او هغه مؤمن هم وی نو دَ هغهٔ عمل به هیڅکله

لِسَعْيِهٖ ۚ وَإِنَّا لَهٗ كٰتِبُونَ وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ أَهْلَكْنٰهَآ

دَ هغهٔ دَ کوشش | او بیشکه موږ | هغه | لیکونکی یو | او ناممکنه ده | په هر یو کلی | چه موږ هغه هلاک کړو

ضائع نهٔ شی او موږ یقیناً دَ هغهٔ عملونه لیکو . او کومه بناریه چه موږ ه تباه کړے ده دَ هغې دَ اوسیدونکو

أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتّٰىٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم

چه هغوی به | بیرته نه راګرځی (موږ ته) | تر دے چه | کله وخت راپرانستلے شی | یاجوج | او ماجوج | او دوی به

دَ پاره ناممکنه ده چه هغوی به بیا دنیا ته واپس راشی ، تر دے چه هر کله یاجوج او ماجوج پرانستلے شی او هغوی

مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ

له هرے لوړے نه | راځغلی | او نزدے به راورسیږی | وعده | رښتینے | پس ناګهانه به

دَ هرے لوړے نه په منډه کوز یږی او رښتینے وعده به نزدے راورسیږی نو دَ دغه کافرانو

شَاخِصَةٌ أَبْصٰرُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا

واړے پاتے شی | سترګے | دَ هغو خلقو | چه کافران دی | افسوس په موږ | بیشکه وو موږ

خلقو سترګے به واړے پاتے شی ، (بیا به هغوی وائی چه) افسوس! موږ دَ دے حقیقت

فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِينَ إِنَّكُمْ وَمَا

په غفلت کښے | له دے (حال) نه | بلکه | وو موږ | ظالمان | بیشکه تاسو | او دَ څهٔ چه

نه په غفلت کښے پاتے شو ، نه! بلکه په ځان موږ ظلم کولو. بیشکه چه تاسو هم او دَ الله

تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ۖ أَنتُمْ لَهَا

تاسو عبادت کوئ | سیوا دَ الله نه | خشاک دے | دَ دوزخ | تاسو (ټول به) | هغې ته

نه بغیر چه تاسو دَ چا عبادت کوئ هغه ټول هم دَ دوزخ خشاک دے ، تاسو ټول به په هغې کښے

ع ٦ / ٤

وٰرِدُوْنَ ﴿٩٨﴾ لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ؕ وَكُلٌّ

داخلیږئ | که چیرے وے | دا (بتان) | معبودان | (نو) نه | به تلل دوزخ ته | او (دوی) ټول به

ورداخلیږئ ۔ که دوئ په (رښتیا) خدایان وے نو هغه (دوزخ) ته به ولے ورننوتل؟ (خواوس) ټول به

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٩٩﴾ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّهُمْ فِيْهَا لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿١٠٠﴾

په دے کښے | همیشه وی | دوی له به | په دے کښے | شور وغوغا کړی | او دوی به | په دے کښے | هیڅ نه آوری

په کښے همیشه همیشه اوسیږی. په هغه کښے دوئ به شور وغوغا کوی او (بل) هیڅ خبره به نه آوری

اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰٓى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنْهَا

بیشکه | هغه خلق چه | له وړاندې نه مقرر شوی ده | د دوئ د پاره | زمونږ له طرفه | ښیګړه | دغه خلق به | د دے نه

هغه خلق د کوم د پاره چه زمونږ د طرف نه د وړاندې نه د نیکئ فیصله شوے ده هغوئ به د دے عذاب نه

مُبْعَدُوْنَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَهُمْ فِيْ مَا اشْتَهَتْ

لرے ساتلے شی | نه به آوری | آواز د دے (دوزخ) | او دوی به | په هغه څه کښے | چه غواړی ئے

(بالکل) لرے ساتلے شی، د هغې کښار قدر له به هم نه آوری ، او د خپلے خوښے په ژوند کښے

اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿١٠٢﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ

نفسونه د دوی | همیشه وی | نه به غمژن کوی دوی | ویره | لویه (د قیامت)

به تل تر تله اوسیږی ۔ (د قیامت) غټه ویره به ئے (د ذرے هومره) په غم کښے نه غورزوی

وَتَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿١٠٣﴾

او ملاقات به کوی د دوئ سره | فرښتے | دا ده ستاسو هغه ورځ | د کومے چه | تاسو سره وعده کولے شوه.

او فرښتے به ورله مخے له راځی (چه) دا ئې ستاسو هغه ورځ ده چه وعده ئے به درسره کیده ــ

يَوْمَ نَطْوِى السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاْنَآ

په کومه ورځ | چه راونغاړو مونږ | آسمان | په شان د رانغښتلو | د کاغذ | د خطونو | لکه څنګه چه مونږ پیدا کړل

هغه ورځ (د یاد ساتلو ده) چه مونږ به آسمان ونغاړو لکه چه لیکلے شوے کاغذ رانغښتلے شی څنګه چه مو اول ځل

اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿١٠٤﴾ وَلَقَدْ

په اول ځل | (دغه شان) مونږ به دوباره پیدا کړو | وعده ده | زمونږ په ذمه | بیشکه یو مونږ | کوونکی | او بیشکه

پیدا کړے وو د هغے په شان دے سره دوباره پیدا کړو، دا زمونږ په ذمه پرته وعده ده چه مونږ به ئے خامخا پوره کوو او مونږ

كَتَبْنَا فِى الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ يَرِثُهَا

مونږ لیکلی | په زبور کښے | پس له | نصیحت نه | چه دا زمکه | وارثان به وی د دے

په آسمانی کتابونو کښے لیکلی دی د لوح محفوظ د لیک نه پس چه (د جنت) د زمکے وارثان به (یوازے)

عِبَادِىَ الصّٰلِحُوْنَ ﴿١٠٥﴾ اِنَّ فِيْ هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿١٠٦﴾

زما بندګان | نیکان | بیشکه | په دے کښے | کافی مضمون دے | هغه خلقو د پاره | چه عبادت کوونکی دی

زما نیکان بندګان وی ۔ په دے (قرآن) کښے د عبادت کوونکو د پاره ډیر کافی مضمون پروت دے

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ اِنَّمَا

اونه يې رالېږلى موږ ته | مګر | رحمت | د ټولو عالمونو د پاره | دوايه | بېشکه

او موږ ته د ټولو جهانونو د پاره رحمت جوړ کړے لېږلے يې . (اې پېغمبره!) ته دوايه چه ما

يُوْحٰۤى اِلَيَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَهَلْ

وحی کولے شي | زما طرف ته | هم دا چه | ستاسو معبود | معبود دے | هم يو | پس ايا

ته خو بس دا وحی راغلې ده چه ستاسو معبود بس يو معبود دے ، نو ايا اوس هم

اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٠٨﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ

يئ تاسو | فرمانبرداری کوونکي | پس که چرے | مخ واړوي دوی | نو ووايه | چه ما خبردار کړئ تاسو

تاسو منئ که نه ؟ نو که بيا هم مخونه واړوي نو ته ورته ووايه چه ما خو تاسو پوره

عَلٰى سَوَآءٍ ؕ وَاِنْ اَدْرِيْۤ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا

سم صفا | او زه نه پوهيږم | چه نزدے ده | يا | لرے ده | د کوم چه

پوره خبر کړئ . او ما ته دا معلومه نه ده چه کومه وعده تاسو سره شوے ده چه هغه نزدے

تُوْعَدُوْنَ ﴿١٠٩﴾ اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ

تاسو سره وعده کولے شي | بېشکه دے | پوهيږي | په ښکاره | خبره | او دے پوهيږي

ده يا لرے ده . بېشکه چه الله تعالیٰ په ښکاره خبره هم پوهه دے او په هغې هم پوهه دے

مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿١١٠﴾ وَاِنْ اَدْرِيْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ

په هغه چه تاسو يې پټوئ | او زه نه پوهيږم | شايد چه دا | آزميښت وي | تاسو د پاره

چه تاسو يې پټوئ ، او زه نه پوهيږم کيدے شي چه دا (تاخير) تاسو د پاره يو آزميښت

وَمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿١١١﴾ قٰلَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ؕ

او فائده څوڅول | تر څه وخته پورے | پېغمبر وفرمائيل | اے زما ربه! | فيصله وکړه | په حق سره

وي او تاسو ته تر څه وخته پورے فائده رسول وي . پېغمبر وفرمائيل چه اے زما ربه! ته د حق مطابق فيصله وکړه

وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿١١٢﴾

او زموږ رب | ډېر مهربان دے | له ده نه مدد غوښتلے شي | په هغه | چه تاسو يې بيانوئ .

او زما رب د رحمتونو خاوند دے موږ ترے نه مدد غواړو د هغې خبرو په مقابله کښې کومے چه تاسو بيانوئ .

سُوْرَةُ الْحَجِّ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

سورة حج په مدينه کښې نازل شوه او | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډېر زيات رحم کوونکے دے | په دے کښې ٧٨ آيتونه او ١٠ رکوع دي

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډېر زيات رحم خاوند دے

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ

اے | خلقو! | ويريږئ | د خپل رب نه | بېشکه | زلزله | د قيامت | څيز دے

اے خلقو! د خپل رب نه ويره ساتئ (ځکه چه) د قيامت (د ورځې) زلزله يو ډېر درونده

عَظِيۡمٌ ﴿١﴾ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ

لوے | په کومه ورځ | چه تاسو وو به وینئ هغه | هیر به کړی | هره یئ ورکوونکے | هغه ماشوم

غیږ دے . په دغه ورځ چه تاسو هغه (زلزله) وو وینئ نو هره یوه تے ورکوونکے (مور) به خپل ذَتی ماشوم هیر

اَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى

کوم ته چه هغه یئ ورکوی | او وو به غورزوی | هره یوه | بارداره ښځه | حمل خپل | او وو به وینې به ته

کړی ، او هره ذحمل میرمن به خپل حمل وُغورزوی ، او خلق به درته

النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمۡ بِسُكٰرٰى وَلٰـكِنَّ عَذَابَ

خلق | بے هوشه | اوند به وی هغوی | بے هوشه | لیکن | عذاب

بے خوده ښکاری ، حال دا چه بے خوده به نهٔ وی ، لیکن ذَ الله تعالیٰ عذاب

اللّٰهِ شَدِيۡدٌ ﴿٢﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ

ذَ الله | به سخت وی | او ځنې | خلق | هغه دی | چه جګړه کوی | ذَ الله په حقله

ډیر سخت دے . او ځنې خلق داسے هم دی چه ذَ الله تعالیٰ په حقله بغیر ذَ څهٔ علم (او دلیل)

بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطٰنٍ مَّرِيۡدٍ ﴿٣﴾ كُتِبَ

بغیر ذَ علم نه | او پیروی کوی | ذَ هر | شیطان | سرکش | لیکلے شوے دہ

نه جګړے کوی ، او په هر یو شیطان سرکش پسے روانیږی ، چه ذَ هغهٔ (مردود) په

عَلَيۡهِ اَنَّهٗ مَنۡ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَيَهۡدِيۡهِ

په ده | چه څوک | دوستی وکړی ورسره | نو بیشکه هغه | به دے ګمراه کړی | او لاس به ونیائی ده ته

حقله دا لیک شوے دے چه څوک ورسره ملګرے شی نو هغه یے ګمراه کړی او ذَ دوزخ ذَ

اِلٰى عَذَابِ السَّعِيۡرِ ﴿٤﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنۡ كُنۡتُمۡ فِىۡ رَيۡبٍ

طرف ذَ عذاب | ذَ دوزخ ته | اے خلقو ! | که چیرے یئ تاسو | په شک کښے

عذاب لاره ورته ښیوی . اے خلقو ! که تاسو ذَ بیا ژوندون په حقله شکمن

مِّنَ الۡبَعۡثِ فَاِنَّا خَلَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ تُرَابٍ ثُمَّ مِنۡ نُّطۡفَةٍ

ذَ دوباره راپاڅیدلو نه | نو بیشکه موږ راپیدا کړی یئ تاسو | له خاورے نه | بیا | له نطفے نه

یئ نو (لږ فکر وکړئ چه) موږ تاسو (اول) ذَ خاورے نه پیدا کړئ بیا ذَ یو څاڅکی اوبو نه

ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنۡ مُّضۡغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيۡرِ مُخَلَّقَةٍ

بیا | له وینے له ټوټے نه | بیا | ذَ غوښے له ټوټے نه | چه مکمله وی | او نامکمله

بیا ذَ مایه وینے نه ، بیا ذَ غوښے ذَ یو ټی نه چه (ځنې) پوره وی او (ځنې) ناقصه وی

لِّنُبَيِّنَ لَـكُمۡ ؕ وَنُقِرُّ فِى الۡاَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ اِلٰٓى اَجَلٍ

چه موږ واضحه کړو | تاسو ذَ پاره | او موږ قرار ورکوو | په رحمونو کښے | څهٔ چه وغواړو | تر نیټے

چه په تاسو باندے (خپل قدرتونه) واضحه کړو او موږ چه ذَ چا په حقله وغواړو نو تر یوے مودے پورے هغه ذَ مور په

مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا اَشُدَّكُمْ ۚ

مقرر پورې | بیا | موږ راوباسو تاسو | ماشوم | بیا | چه تاسو ورسیږئ | خپلې ځوانۍ ته

رحم کښې ځائے کړو، بیا تاسو سم ماشوم (کمزوري) راوباسو چه بیا د ځوانۍ زور ته ورسئ

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ

او ځنې له تاسو نه | هغه څوک دی | چه مړه شي | او ځنې له تاسو نه | هغه څوک دي | چه واپس کړے شي | عور زیل لی

او په تاسو کښې څوک داسے دی چه (په پوخ عمر کښې) مړه شي او ځنې داسے وی چه (د بوډا توب) عورزیل لی

الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ وَتَرَى

عمر ته | چه هغه پوهه پاتې نه شي | پس | له پوهیدو نه | په هیڅ څیز | او وینې ته

عمر ته ورسی، چه د پوهے نه پس یو ځل بیا سوده ناپوهه شي. او ته وینې ګوره

الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ

زمکه | خشکه پرته | پس هر کله چه | موږ راو ورولے | په هغې باندې | اوبه

چه زمکه اوچه مړه پرته ده، بیا چه موږ په هغې اوبه راو ورو، نو

اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيْجٍ ۝5

نو دا وخوزیږی | او راوپړسیږی | او را ؤ ټوکوی هغه | د هر قسم څیزونه | ښائسته

راویښه شي او زرغونه شي. او د هر قسم ښائسته شیئے راوټوکوی

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ

دا (قول) | ځکه چه | هم الله دے | برحق | او بیشکه هم دے | ژوندی کوی | مړی | او بیشکه دے

دا ځکه چه الله تعالیٰ حق دے او هم هغه په خپله مړو کښې ساه اچوی او هغه

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝6 وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ

په هر څیز باندې | قادر دے | او چه | قیامت | راتلونکے دے | هیڅ شک نشته | په دے کښې

په هر څیز باندې قدرت لری. او (دا ځکه) چه قیامت راتلونکے دے، په دے کښې هیڅ شک نشته

وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝7 وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

او یقیناً | الله | به بیا راپاڅوی | هغه څوک | چه په قبرونو کښې دی | او ځنې له خلقو نه | هغه څوک دی

او الله تعالیٰ به په قبرونو کښې پراته مړی بیا راژوندی کوی، او په خلقو کښې ځنې داسے هم شته

يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝8

چه جګړه کوی | د الله په حقله | بغیر د څه علم نه | او بغیر د څه هدایت نه | او بغیر د څه کتاب | روښانه نه

چه د الله تعالیٰ په حقله بے د څه علم نه او بے د څه دلیل نه او بے د یو روښانه کتاب نه جګړے کوی

ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِي الدُّنْيَا

تاوه ونکی | طرف د ګردن خپل | چه دے ګمراه کړی (خلق) | د لارے نه | د الله | دهٔ د پاره | په دنیا کښې

په تکبر سره په څټ ګرځولو چه (خلق) د الله تعالیٰ د لارے نه ګمراه کړی، داسے بنده له په دنیا کښې

خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝۹

رسوائی ده | او موږ به څکوو ده ته | په ورځ | دَ قیامت | عذاب | دَ سوزولو

هم رسوائی مقرر ده، او دَ قیامت په ورځ به موږ دوی ته دَ سوزونکی اور دَ عذاب مزه وڅکوو

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ

دا دے | په وجه دَ هغه عملونو | چه لیږلی دی ورانډې | ستا دواړو لاسونو | او یقیناً الله | نهٔ دے | ظلم کوونکے

دا دَ هغه عملونو سزا ده چه تا وړاندې لیږلی وو او الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې هیڅ کله

لِّلْعَبِيْدِ ۝۱۰ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ

ع ۸

په بندګانو خپلو | او څوک | له خلقو نه | هغه څوک دی | چه عبادت کوی | دَ الله | په یوه غاړه

ظلم نهٔ کوی. او له خلقو نه څوک هغه هم دی چه دَ الله تعالیٰ عبادت (دَ شک شبهې) په غاړه (ولاړ) کوی

فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ِۨاطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ ِۨ

پس که چرے | ورسیږی هغهٔ ته | ښیګړه | نو مطمئن شی | په هغې | او که چرے | ورسیږی هغهٔ ته | مصیبت

(دا ے کس ته) که چرے فائده ورسیږی نو هغه دَ هغې نه مطمئن شی او که چرے په هغهٔ ازمیښت کښې پریوځی

انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ۭ ذٰلِكَ هُوَ

نو اُلټه وګرځی | په مخ خپل | نو نقصان وکړی | دَ دُنیا | او دَ آخرت | هم دا دے هغه

نو مخ اُوچت کړی (او دَ کفر طرف ته) بیرته وګرځی، نو دهٔ په دنیا او آخرت دواړو کښې نقصان بیاموندۀ، هم دا

الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝۱۱ يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ

نقصان | ښکاره | دے بلی | سیوا | دَ الله نه | هغه څهٔ | چه نهٔ ضرر ورکوی دهٔ ته

هغه ښکاره نقصان دے، دے دَ الله تعالیٰ نه بغیر داسے (معبودانو) ته زاری کوی چه نهٔ دهٔ ته نقصان

وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ۝۱۲ يَدْعُوْا

او هغه څهٔ چه | نفع نهٔ ورکوی دهٔ ته | هم دا دے هغه | ګمراهی | دَ لرے | دے بلی

رسولے شی او نهٔ دهٔ ته ګټه ورکولے شی، هم دغه خو لویه ګمراهی ده. هغه داسے (دَ دروغو معبو)

لَمَنْ ضَرُّهٗٓ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ۭ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى وَلَبِئْسَ

هغه څوک | چه ضرر دَ هغهٔ | ډیر نزدے دے | له نفع دَ هغې نه | ډیر بد دے | دوست | او ډیر بد دے

بلی دَ کوم نقصان چه دَ دهٔ دَ نفع نه زیات نزدے دے، داسے آقا ناکاره آقا دے او داسے ملګرے

الْعَشِيْرُ ۝۱۳ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

ملګرے | بیشکه الله به | داخل کړی | هغه خلق چه | ایمان ئے راوړے | او عملونه ئے وکړل

بد ملګرے دے، بیشکه الله تعالیٰ هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے او نیک کارونه

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

نیک | په باغونو کښې | بهیږی به | لاندې دَ هغې نه | نهرونه | بیشکه الله

کوی په داسے باغونو کښې داخل کړی چه لاندې به ترے نه نهرونه بهیږی، بیشکه الله تعالیٰ

يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ أَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ

کوی | څهٔ چه غواړی | کوم کس چه | گمان کوی | چه هیڅ کله به مدد ونهٔ کړی دٔ دهٔ | الله

چه څهٔ غواړی هغه کوی. څوک چه دا خیال کوی چه الله تعالیٰ به دُنیا او آخرت کښې دَ خپل پیغمبر

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ

په دُنیا کښې | او آخرت (کښې) | نو هغه دِ اُوږد کړی | یو پړے | آسمان طرف ته | بیا دِ

مدد نهٔ کوی ، نو هغهٔ له پکار دی چه یو پړے تر آسمانه وُغزوی بیا دِ (دِ وُخیژی او)

لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾

پرے کړی | بیا دِ وُگوری | آیا | لرے به کړی | تدبیر دَ دهٔ | هغه (شکایت) | دَ کوم نه چه خوشحاله دَے

دَ وحی سلسله دِ پریکړی بیا دِ وگوری چه آیا دَ هغهٔ دا تدبیر دَ هغهٔ دَ قهر سامان ختمولے شی؟

وَكَذٰلِكَ أَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ وَّأَنَّ اللّٰهَ يَهْدِي

او دغه شان | نازل کړو مونږ دا (قرآن) | آیتونه | واضحه | او بیشکه | الله | هدایت کوی

او هم دغه شان مونږ دا (قرآن) دَ څرگندو نخښو په شکل کښې نازل کړے دَے او چا ته چه الله تعالیٰ وغواړی

مَنْ يُّرِيدُ ﴿١٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصّٰبِئِينَ

چا ته چه | وُغواړی | بیشکه | کوم خلق چه | مؤمنان دی | او کوم خلق چه | یهودیان شول | او دَستورو عبادت کوونکی

هدایت ورته کوی. بیشکه کوم خلق چه مؤمنان دی او کوم چه یهودیان دی او صابیان او

وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللّٰهَ

او | نصرانیان | او مجوسیان | او کوم خلق چه | مشرکان دی | بیشکه | الله

او عیسایان او آتش پرست دی او څوک چه مشرکان دی - الله تعالیٰ به دَ قیامت

يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

به فیصله وکړی | دَ دوی په مینځ کښې | په ورځ | دَ قیامت | بیشکه | الله | په هر څیز باندې

په ورځ دَ دے ټولو په مینځ کښې فیصله وکړی ، الله تعالیٰ ته هر څیز مخامخ پروت

شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

خبردار دے | آیا تا نهٔ دی کتلی | چه بیشکه الله ته | سجده کوی | هغه څوک چه | په آسمانونو کښې دی

دے - آیا تهٔ نهٔ گورے چه ټول الله تعالیٰ ته سجده (او اطاعت) کوی کوم مخلوقات چه

وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ

او هغه څوک چه | په زمکه کښې دی | او نمر | او سپوږمئی | او ستوری | او غرونه

په آسمانونو او زمکه کښې دی او نمر او سپوږمئ او ستوری او غرونه او

وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ

او ونے | او ځاروی | او ډیر | له خلقو نه | او ډیر (داسے دی) | چه ثابت شوې دَے

ونے او ځاروی په سجده پراته دی او ډیر انسانان هم سجدے کوی او ډیر په کښې داسے هم دی

عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ

په دوی باندې | عذاب | او چا لره چه | ذلیله کړی | الله | پس نشته | هغه له | (څوک) عزت ورکوونکے

چه عذاب پرې ثابت شوے دے او څوک چه الله تعالیٰ ذلیله کړی نو هغه له څوک عزت ورکوونکے نشته

اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ﴿١٨﴾ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا

بیشکه الله | کوی | هغه څه | چه غواړی | دا دوه | جګړه کوونکی (ډلے) دی | کوم چه جګړه وکړه

الله تعالیٰ چه څه غواړی هغه کوی ، دا دواړه فرقے دی چه د خپل رب په حقله اختلاف

فِيْ رَبِّهِمْ ؗ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ

د خپل رب په حقله | پس کوم چه | کافران دی | پرې کولے به شی | د دوی د پاره | جامے | د اور

کوی ، نو څوک چه کافران دی هغوئ له به د اور نه جامے وُسکیستلے شی

يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهٖ مَا

اچولے به شی | د پاسه نه | د دوی د سرونو | یشیدلے اوبهٔ | چه ویلی به شی | په دے سره | څه چه دی

د سرونو د پاسه به ورله (خټکیدلے) تودے اوبه تویولے شی، په دے سره به د دوی د ګیډے دننه

فِيْ بُطُوْنِهِمْ وَالْجُلُوْدُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيْدٍ ﴿٢١﴾ كُلَّمَآ

د دوی په خیټو کښے | او څرمنے | او د دوی د پاره | به ګرزونه وی | د اوسپنے | هرکله چه

کولمے او د دوی څرمنے خوریږی او د وهلو د پاره به ورته د اوسپنے ګرزونه پراته وی ، هرکله چه

اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ اُعِيْدُوْا فِيْهَا ۗ وَذُوْقُوْا

دوی اراده وکړی | چه وُوځی | له دے نه | له غم نه | نو دوی به واپس کولے شی | په هغے کښے | او وُڅکئ

ترے نه خفه زهیر بهرته وتل وغواړی نو بیا به ورته ورد یکه کولے شی او ورته به ویلے شی چه

عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿٢٢﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

عذاب | د سوزولو | بیشکه الله | داخل به کړی | هغه کوم چه | ایمان راوړے دے

د سوزیدو عذاب وُڅکئ۔ الله تعالیٰ به هغه کسان چه ایماندار دی او د نیکئ

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ

او عملونه ئے کړی دی | نیک | باغونو کښے | چه بهیږی به | لاندې د هغے نه | نهرونه | اچولے به شی دوی ته

کارونه کوی په داسے باغونو کښے داخل کړی چه د هغے لاندې به ویالے بهیږی ، هلته به ورته

فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ؕ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا

په هغے کښے | باهوګان | د سرو زرو | او ملغلرے | او د دوی لباس به وی | هلته

د سرو زرو باهوګان او ملغلرے اچولے شی ، او هلته به د هغوئ جامے د

حَرِيْرٌ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوْٓا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚۖ وَهُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ

د ریښمو | او هدایت شوے وو دوی ته | د پاکیزه | کلمے (د توحید) | او هدایت شوے وو دوی ته | په طرف د لارے

ریښمو وی او (داځکه چه په دنیا کښے) دوی ته د پاکیزه کلام هدایت شوے وو ، او د ستائیلی شوی (خدائے)

الْحَمِيْدِ ﴿٢٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

دَ ستائيلي شوي | بيشكه | كوم خلق چه | كافران دي | او منع كوي (خلق) | دَ لارے نه | دَ الله

لاره ته چې ښودلے شوے وه. بيشكه هغه خلق كوم چه كفر اختيار كړو او چه خلق دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه او دَ

وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِيْ جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءَ ۨالْعَاكِفُ

او (له) مسجد حرام (نه) | هغه نه چه | جوړ كړو مونږ | خلقو دَ پاره | برابر دے | اوسيدونكے

مسجد حرام نه منع كوي كوم چه مونږ دَ ټولو خلقو دَ پاره مقرر كړے دے چه په هغه كښے اوسيدونكے (كوربه) او دَ

فِيْهِ وَالْبَادِ ۭ وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ

په دے كښے | او دَ بهرنه راتلونكے | او څوك چه وغواړي | په دے كښے | بے دينی | په ظلم سره | مونږ به وڅكوو ده ته

بهرنه راتلونكے (مسافر) يو برابر دي او څوك چه په ظلم سره په دے ځائے كښے دَ بے دينۍ جاري كولو اراده وكړي نو مونږ به ئے

مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٥﴾ وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ ع

عذاب | دردناك | او هر كله چه | وښودلو مونږ | ابراهيم ته | ځائے | دَ كور

دَ دردناك عذاب څكه وكړو. او هر كله چه مونږ ابراهيم ته دَ بيت الله (دَ جوړولو) ځائے په ګوته كړو (او حكم مو وركړو)

اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْـًٔا وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ

چه شريك مه نيسه | ما سره | هيڅ څيز | او پاك وساته | زما كور | دَ پاره دَ طواف كوونكو

چه ما سره هيڅ څيز مه شريكوه، او زما كور دَ طواف كوونكو او قيام كوونكو او ركوع او

وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿٢٦﴾ وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ

او دَ قيام كوونكو | او دَ ركوع كوونكو | او دَ سجده كوونكو | او اعلان وكړه | په خلقو كښے | دَ حج

سجده كوونكو دَ پاره پاك وساته. او په خلقو كښے دَ حج اعلان وكړه

يَاْتُوْكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿٢٧﴾ ۙ

دوي به راځي تاته | پياده | او په هرے ماندہ اوښے | چه راځي به | له هرے لارے | لرے نه

خلق به درله پياده هم راځي او په ټپو ټپو اوښو باندې سواره هم چه په لويو او ليرو لارو به ځان رارسوي

لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ

چه دوي حاضر شي | دَ خپلو فائدو دَ پاره | او ياده كړي | نامه دَ الله | په هغو ورځو كښے

دَ پاره دَ دے چه دلته خپلو فائدو له راحاضر شي او په مقرر و ورځو كښے دَ الله تعالیٰ نوم ياد

مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا

چه معلومے دي | په هغه څه چه | وركړل دوي ته (الله) | له چارپايانو | څاروو نه | پس خورئ تاسو

كړي په هغو څارو و باندې چه الله تعالیٰ ورته روزي كړي دي، نو تاسو په خپله

مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿٢٨﴾ ۫ ثُمَّ لْيَقْضُوْا

له هغے نه | او | خوروئ | په بد حاله | فقيرانو | بيا | لرے دِ كړي

هم ترے نه خورئ، او په بد حالو فقيرانو باندې ئے هم خوروئ. بيا پكار دي چه خلق خپل

ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿۲۹﴾

خیرے خپل | او پوره دې کړي | خپلې منښتې | او طواف دې وکړي | دَ دے کور | پخوانی

خیرے لرے کړي او خپلې منښتې پوره کړي او پکاردي چه دَ دے) زوړ کور طواف وکړي

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ

دا (حکم دې) | او څوک چه | تعظیم کوي | دَ شعائرو دَ الله | نو دا | غوره دی | دهٔ دَ پاره

دا خبره وشوه او څوک چه دَ الله تعالیٰ دَ درنو حکمونو ادب کوي نو دا کار دَ هغهٔ په حقله دَ خپل رب سره

عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى

په نزد دَ رب دَ دهٔ | او حلال کړے شوي دي | تاسو دَ پاره | څاروي | سیوا دَ هغے نه | چه اَورولے شي

ډیر غوره دے ، او تاسو دَ پاره ټول څاروي حلال دي ، بغیر دَ هغے نه دَ کومو (دَ حرمت احکام)

عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ

تاسو ته | پس ځان وساتئ | له پلیتۍ | دَ بتانو نه | او ځان ساتئ | له خبرے

چه تاسو ته اَوروَلے شوي دي پس تاسو دَ بتانو دَ پلیتۍ نه ځان ساتئ او دَ دروغو دَ خبرو نه ځان

الزُّوْرِ ﴿۳۰﴾ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ۗ وَمَنْ يُّشْرِكْ

دَ دروغو نه | مائله وُسیږئ | الله دَ پاره | نه شریک مقرر کوونکي دَ دهٔ سره | او څوک چه | شریک مقرر کړي

ساتئ ، دَ الله تعالیٰ اړخ ته مائله وُسیږئ هغهٔ سره هیڅوک مهٔ شریکوئ او څوک چه الله تعالیٰ سره (بل څوک)

بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ

دَ الله سره | پس گویا | چه هغه پریوتلو | له آسمان نه | پس وُتښتوی دے لره | مارغان

شریکوي نو هغه (داسے دے) لکه چه دَ آسمان نه راپریوتلو ، بیا مارغانو (په فضا کښے) وُتښتولو ـ

اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ﴿۳۱﴾ ذٰلِكَ ۗ وَمَنْ

یا | راوُغورځوي | دے | هوا | په یو لرے ځائے کښے | دا | او څوک چه

یا سیلۍ چرته لرے په یو بیرته ځائے کښے وغورځولو ـ دا خبره وُشوه او څوک چه دَ

يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿۳۲﴾ لَكُمْ

تعظیم کوي | دَ نخښو دَ الله | نو بیشکه دا دے | له پرهیزگارۍ نه | دَ زړونو | تاسو دَ پاره

الله تعالیٰ دَ نخښو عزت کوي نو دا خبره دَ زړونو دَ پرهیزگارۍ خبره ده ، تاسو له دَ دے

فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ

په دے کښے | فائدے دي | تر موده مقرره پورے | بیا دَ دے ذبح کول دي | کور

څاروُو نه تر یوے ټاکلے نیټے پورے فائدے اخستل روا دي ، بیا دَ دغے څاروُو دَ حلالے ځائے دَ زوړ کور

الْعَتِيْقِ ﴿۳۳﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ

پخواني ته | او دَ پاره دَ هر | اُمت | مقرر کړے دَ موږ | قرباني | دَ پاره دَ دے چه یاد کړي | نامه

(کعبے) په خوا کښے مقرر دے ـ او موږ هر یوه اُمت له یوه قرباني مقرره کړے ده ، دَ پاره دَ دے چه موږ ورته

ع ۴ ۱۱

اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۗ فَاِلٰهُكُمْ

دَ الله | په هغه څه چه | ورکړي دي دوی ته (الله) | له چارپایانو | دَ څاروو نه | پس ستاسو معبود

کوم څاروي ورکړي دي په هغې دَ الله تعالیٰ نوم واخلي ، نو ستاسو معبود

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا ۗ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ﴿٣٤﴾ الَّذِيْنَ

معبود یو دے | پس هم دهٔ ته | سر ټیټ کړئ | او زیرے ورکړه | عاجزي کوونکو ته | هغه خلق چه

خو یو خدائے دے ، نو هم دَ هغهٔ اطاعت کوئ او (اے پېغمبره!) عاجزي کوونکو ته زیرے ورکړه . دا هغه خلق

اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ

کله | یاد کړے شي | الله | نو وویرېږي | زړونه دَ دوی | او دوی صبر کوونکي دي | په هغه څه

دي چه هر کله دَ الله تعالیٰ نوم واخستے شي نو دَ دوی زړونه ویرېږي ، او په مصیبتونو کښې صبر

اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٣٥﴾

چه دوی ته ورسیږي | او دوی قائموونکي دَ | دَ مونځ | او له هغه څه نه | چه ورکړي دي مونږ دوی ته | خرڅ کوي

کوي ، او دَ مونځونو پابندي ساتي او زمونږ دَ ورکړے روزۍ نه (دَ نیکۍ په لار کښې) خرڅونه کوي

وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا

او دَ قربانۍ (اوښان) | چه جوړ کړل مونږ دوی | تاسو د پاره | له نخښو نه | دَ الله | تاسو دَ پاره | په دے کښې

او دَ قربانۍ څاروي مونږ تاسو دَ پاره دَ الله (دَ دین) نخښې مقرر کړي دي ، په دے کښې ستاسو خپل

خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ

بېګړه ده | پس یاد کړئ | نوم دَ الله | په هغې باندې | چه ولاړ وي قطار کښې (قربانۍ نه) | پس هر کله چه | راپرېوزي

خیر دے نو څهٔ وخت چه تاسو دغه (څاروي قربانۍ ته) قطار کښې ودروئ نو دَ الله نوم پرے اخلئ بیا چه هغوی په اړخونو

جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ؕ

اړخونه دَ هغوی | نو خورئ | له هغې نه | او خوروئ | په صبر کوونکي غریب | او په سوالګري

پرېوزي نو له هغې نه خپله هم خورئ او صبر کوونکو او غوښتونکو فقیرانو (ددواړو) باندې هم خوروئ

كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٣٦﴾ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ

دغه شان | تابع کړل مونږ دوی | تاسو دَ پاره | چه تاسو | شکر وکړئ | هیڅکله نه رسیږي | الله ته

دغه شان مونږ دا څاروي ستاسو تابع کړي دي چه تاسو زمونږ شکر ادا کړئ ، الله تعالیٰ ته نه خو دَ دے څاروو

لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ كَذٰلِكَ

غوښے دَ دے | او نه وینے دَ دے | لیکن رسیږي هغهٔ ته | پرهېزګاري | له تاسو نه | دغه شان

غوښه رسیږي او نه ئے وینه ، بلکه هغهٔ ته ستاسو صرف پرهېزګاري رسیږي . په دے شان هغهٔ

سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ؕ وَبَشِّرِ

هغهٔ تابع کړل دا | تاسو دَ پاره | چه تاسو لوئي بیان کړئ | دَ الله | په هغه څه چه | لاره ئے وښودله تاسو ته | او زیرے ورکړه

دا څاروي ستاسو تابع کړي دي چه تاسو دَ الله تعالیٰ لوئي بیان کړئ ، هغهٔ تاسو ته لار وښودله او (اے نبي!)

الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا ۗ إِنَّ اللَّهَ

نیکی کوونکو ته | بیشکه الله | دفع کوی | له هغو خلقو نه | چه ایمان راوړی | بیشکه | الله

نیکی کوونکو ته زیری ورکړه. بیشکه چه الله تعالیٰ به د مؤمنانو د سره (د مشرکانو غلبه) لرې کوی، (او) بیشکه

لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ

نه خوښوی | هر | خیانت کوونکے | ناشکره | اجازت ورکړے شو | هغو ته کوم سره چه | جنګ کولے شی

الله تعالیٰ هیڅ یو ټګ چین ناشکره نه خوښوی. هغه (مسلمانان) کوم سره چه جنګ کولے شی اوس دوی ته هم

بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ الَّذِينَ

ځکه چه په دوی | ظلم شوے دے | او بیشکه الله | د دوی په مدد کولو باندې | قادر دے | کوم خلق چه

د جنګ کولو اجازت دے ځکه چه په دوی ظلم کیږی او بیشکه الله تعالیٰ د دوی په مدد کولو باندې قادر دے، دا هغه خلق

أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ۗ

ګرو ویستلے شول | د خپلو کورونو نه | په ناحقه | صرف په دې وجه | چه دوی وائی | زمونږ رب | الله دے

دی کوم چه د دوی د کورونو نه په ناحقه ګرو ویستلے شول صرف په دې خبره چه دوی وائی چه زمونږ رب الله دے

وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ

او که چرې نه دفع کولے الله | خلق | یو د بل په ذریعه | نو نړولے شوے به وے | خلوت خانے

او که چرې الله تعالیٰ خلق د یو بل په ذریعه نه دفع کولے نو (د راهبانو) خانقاهګانے او (د عیسایانو) ګرجے

وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ

او ګرجے | او عبادت خانے | او جماتونه | چه یادولے شی | په دې کښے | نامه | د الله | ډیره.

او (د یهودیانو) عبادت خانے او (د مسلمانانو) جماتونه چه د الله نوم په کښے ډیر ډیر اخستے شی (دا ټول) به وران شوی وو

وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾

او خامخا به مدد کوی | الله | د هغه چا چه | مدد کوی د ده (د دین) | بیشکه | الله | ډیر طاقتور | غالب دے

او الله تعالیٰ به د هغه چا مدد کوی څوک چه د هغه (د دین) مدد کوی، بیشکه چه الله تعالیٰ زور اور او غالب دے

الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا

هغه خلق | که چرې مونږ قوت ورکړو دوی ته | په زمکه کښے | نو قائموی به دوی | مونځ | او ادا کوی به

دغه (مظلومان) داسے خلق دی چه که مونږ ورله د مزکے په مخ باندې حکومت ورکړو نو د مونځ پابندی به ساتی او زکوٰة به

الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ

زکوٰة | او حکم به کوی | د نیک کار | او منع به کوی | له ناخوښه کار نه | او الله لره دے | انجام

به ورکوی، او نورو ته به د نیکئ کولو حکم ورکوی، او د بدئ نه به ئے منع کوی او د هر کار انجام د الله تعالیٰ

الْأُمُورِ ﴿٤١﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ

د ټولو کارونو | او که چرې | دوی دروغژن وګڼړی تا | نو بیشکه دروغژن ګڼړلے وو | له دې نه وړاندې | قوم | د نوح

په قبضه کښے دے او که دوی تا دروغژن ګڼړی نو (غم مه کوه) د دې نه مخکښے د نوح علیه السلام قوم

وَعَادٌ وَّثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَقَوۡمُ اِبۡرٰهِيۡمَ وَقَوۡمُ لُوۡطٍ ﴿٤٣﴾

او عاد | او ثمود | او قوم | دَ ابراهيمٌ | او قوم | دَ لوطٌ

او عاد او ثمود هم او دَ ابراهيمٌ او دَ لوطٌ قوم او دَ مدين خلقو خو هم

وَّاَصۡحٰبُ مَدۡيَنَ ۚ وَكُذِّبَ مُوۡسٰى فَاَمۡلَيۡتُ لِلۡكٰفِرِيۡنَ ثُمَّ

او اهل | دَ مدين | او دروغژن گنړلے شوے وو | موسیٰ | پس ما مهلت ورکړو | کافرانو ته | بیا

(خپل پیغمبران) دروغژن گنړلی وو او موسیٰ هم دروغژن گنړلے شوے وو نو ما کافرانو له مهلت ورکړو بیا ما

اَخَذۡتُهُمۡ ۚ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيۡرِ ﴿٤٤﴾ فَكَاَيِّنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ

ونیول ما دوی | پس څنګه | وو | عذاب زما؟ | پس څومره | کلی

دوی را ونیول نو (تاولیدل چه) زما عذاب څنګه وو؟ پس څومره کلی دی چه مونږ هغه

اَهۡلَكۡنٰهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ فَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوۡشِهَا وَبِئۡرٍ

مونږ هلاک کړل | او هغه ظالمان وو | پس هغه | پریوتی دی | په خپلو چتونو باندې | او کوهیان

هلاک کړل ځکه چه هغوی نافرمانه وو، نو اوس دَ هغوی چتونه پرېګنې پراته دی او ډیرې کاره

مُّعَطَّلَةٍ وَّقَصۡرٍ مَّشِيۡدٍ ﴿٤٥﴾ اَفَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ

چه بې کاره پراته دی | او ماڼۍ | لوړے | پس آیا نه دی ګرځیدلی دوی | په زمکه کښې

کوهیان او څومره لوړلوړ محلونه (وران) پراته دی، نو آیا دوی دَ زمکے په مخ ګرځېدلی (نه) دی؟ نو آیا دوی دَ زمکے په مخ تګ راتګ نه کوی

فَتَكُوۡنَ لَهُمۡ قُلُوۡبٌ يَّعۡقِلُوۡنَ بِهَاۤ اَوۡ اٰذَانٌ يَّسۡمَعُوۡنَ بِهَا ۚ

پس چه وے | دَ دوی | زړونه | چه دوی پوهیدلے په هغے سره | یا (دے) غوږونه | چه دوی آورېدلے په هغے سره

چه دَ دوی دلته زړونه وے چه پوهه ئې پرے اخستے، یا داسے غوږونه ورسره وے چه په هغے ئې (حقه خبره)

فَاِنَّهَا لَا تَعۡمَى الۡاَبۡصَارُ وَلٰكِنۡ تَعۡمَى الۡقُلُوۡبُ الَّتِىۡ

ولے چه بیشکه | نه ړندیږی | سترګے | لیکن ړندیږی | زړونه | هغه چه

آوریدلے خو سمه خبره داده چه سترګے نه ړندیږی، بلکه هغه زړونه ړانده شی چه په سینو

فِى الصُّدُوۡرِ ﴿٤٦﴾ وَيَسۡتَعۡجِلُوۡنَكَ بِالۡعَذَابِ وَلَنۡ يُّخۡلِفَ اللّٰهُ

په سینو کښے دی | او دوی زر غواړی له تانه | عذاب | او هیڅ کله به خلاف نه کوی | الله

کښے (پټ) پراته وی. او دا خلق له تانه زر عذاب غواړی او الله تعالیٰ به هیچرے دَ خپلے

وَعۡدَهٗ ؕ وَاِنَّ يَوۡمًا عِنۡدَ رَبِّكَ كَاَلۡفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوۡنَ ﴿٤٧﴾

دَ خپلے وعدے | او بیشکه | یوه ورځ | په نزد دَ رب ستا | په شان دَ زرو کالو ده | له هغے نه شمیرئ ئې تاسو

وعدے خلاف ورزی نه کوی او ستا دَ رب یوه ورځ ستاسو دَ شمیرے مطابق دَ زرو کالو سره برابره ده.

وَكَاَيِّنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ اَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذۡتُهَا ۚ

او څومره | کلی دی | چه ما مهلت ورکړو هغوئ ته | او هغه ظالمان وو | بیا | ما ونیول هغوی

او داسے ډیر کلی دی چه ما هغوئ له مهلت ورکړو او هغوئ به زیاتے کولو، بیا ما هغوئ را ونیول

وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا لَكُمْ

او زما طرف ته دی | بیرته راګرځیدل | ووایه | اے خلقو! | بیشکه (چه) | زهٔ | تاسو دَ پاره

او هم زما طرف ته (دَ ټولو) واپس راتلل دی. ووایه چه اے خلقو! زهٔ خو تاسو دَ پاره صفا صفا

نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُم

ویروونکے یم | ښکاره | پس کوم خلق چه | ایمان راوړی | او عملونه ئے وکړل | نیک | دوی له

ویروونکے یم. نو چا چه ایمان راوړے دے او دَ نیکئ کارونه کوی نو دهغوی

مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِيٓ آيٰتِنَا

بخښنه ده | او روزی | دَ عزت | او هغه خلق | کوم چه کوشش وکړو | زمونږ په آیتونو کښے

اجر بخښنه او دَ عزت روزی ده او څوک چه زمونږ دَ نخښو په حقله دَ هغے دَ عاجزه کولو

مُعٰجِزِينَ أُولٰٓئِكَ أَصْحٰبُ الْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا

دَ عاجزه کولو | هم دا دی | اهل | دَ دوزخ | او نهٔ دے | لیږلے مونږ

کوشش نه کوی، نو هم دغه کسان دوزخیان دی. او مونږ له تا نه وړاندې چه کوم

مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنّٰىٓ أَلْقَى

له تا نه وړاندې | څوک | رسول | او نهٔ څوک نبی | مګر هر کله چه | هغه قرأت کوی | نو غورزوی

رسول یا نبی رالیږلے دے هر کله چه هغهٔ دَ الله تعالیٰ حکمونه لوستل او اوروِل دی نو شیطان

الشَّيْطٰنُ فِيٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ

شیطان (وسوسه) | دَ هغهٔ په قرأت کښے | پس لرے کړی | الله | هغه څهٔ چه | غورزوی | شیطان

دَ هغهٔ په لوستلو کښے (دَ کافرانو په زړونو کښے) وسوسه غورزولے ده. بیا الله تعالیٰ دَ شیطان وسوسے فنا کړی

ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آيٰتِهِۦ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٢﴾ لِّيَجْعَلَ

بیا | مضبوطوی | الله | آیتونه خپل | او الله | پوهه | دَ حکمت خاوند دے | چه جوړ کړی

بیا الله تعالیٰ خپل آیتونه مضبوط کړی. او الله تعالیٰ په هر خبره پوهه دَ حکمت خاوند دے. او دا (هر څهٔ)

مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ

هغه څهٔ | چه غورزوی | شیطان | یو آزمیښت | هغو دَ پاره چه | په زړونو دَ هغوی کښے | مرض دے

ځکه (کیږی) چه الله تعالیٰ دَ شیطان غورزولے وسوسه یو آزمیښت وګرځوی دَ هغه خلقو دَ پاره چه دَ هغوی په زړونو کښے مرض دے

وَالْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ الظّٰلِمِينَ لَفِي شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾

او سخت دی | دَ هغوی زړونه | او بیشکه | ظالمان | په مخالفت کښے دی | ډیر لرے

او زړونه ئے سخت شوی دی او بیشکه چه ظالمان په ډیر دروند مخالفت کښے (بوخت) پراته دی

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ

او چه پوهه شی | کوم تهٔ چه | ورکړے شوے دے | علم | چه هغه (حکم) | حق دے | ستا دَ رب له طرفه

او چه کوم خلقو ته علم ورکړے شوے دے هغوی ښه پوهه شی چه دا ستا دَ رب له طرفه حق دے

فَيُؤْمِنُوا بِهِ فَتُخْبِتَ لَهُ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ

بیا دوی ایمان راوړی | په هغه | بیا ټیټ شی | دهٔ ته | د دوی زړونه | او بیشکه | الله | هدایت کوونکے دے

پس هغوی په دے ایمان راوړی او د هغوی زړونه د الله تعالیٰ په وړاندې ټیټ شی او بیشکه الله تعالیٰ مؤمنانو ته

الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾ وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ

هغه خلقو ته | چه ایمان راوړی | سمې لارې ته | او همیشه به وی | کوم خلق چه

د نیغ لارے طرف ته هدایت کوی ، او کوم خلق چه کافران دی

كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً

کافران دی | په شک کښې | د دے په نسبت | تر دے چه | راشی په دوی باندې | قیامت | ناګهانه

هغوی به د قرآن په معامله کښې همیشه په شک کښې پراته وی تر دے چه ناګهانه به پرے قیامت راشی

أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾ الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ

یا راشی به دوی باندې | عذاب | د ورځے | سپیره | حکومت به | په دغه ورځ | د الله وی

یا د شپړے (بے برکته) ورځے عذاب به ئے په سر راشی . حکومت به په دغه ورځ صرف د الله تعالیٰ وی

يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۚ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

دے به فیصله وکړی | د دوی په مینځ کښې | پس کوم خلق چه | ایمان راوړی | او عملونه ئے وکړل | نیک

هغه به د خلقو تر مینځه فیصله وکړی ، پس هغه خلق چه ایمان راوړی او هغوی نیک عمل وُکړه ،

فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٥٦﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَأُولَٰئِكَ

(وی به) په باغونو کښې | د نعمت | او کوم خلق چه | کافران دی | او دوی دروغ وګڼل | زمونږ آیتونه | پس هم داچه دغه

هغوی به د نعمت په باغونو کښې وی . او هغه خلق کوم چه کفر وکړو او زمونږ آیتونه ئے دروغ وګڼل ، هغو خلقو د پاره

لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ع ٧/١٤

په دوی د پاره | عذاب دے | سپکوونکے | او کوم خلق چه | هجرت وکړو | په لاره کښې | د الله

سپکوونکے عذاب مقرر دے . او هغه خلق کوم چه د الله تعالیٰ په لاره کښې هجرت وکړو

ثُمَّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ

بیا وُوژلے شول | یا مړهٔ شول | خامخا به رزق ورکړی دوی ته | الله | رزق | ښهٔ | او بیشکه الله

بیا هغوی وُوژلے شول یا مړهٔ شول نو الله تعالیٰ به هغوی له خامخا ښهٔ رزق ورکړی او (یاد ساتئ چه) بیشکه

لَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٥٨﴾ لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا يَرْضَوْنَهُ

خامخا هم دے | ډیر ښهٔ | رزق ورکوونکے دے | خامخا هغه به داخل کړی دوی | داسے ځائے ته | چه هغه به دوی خوښ کړی

الله تعالیٰ ښهٔ روزی رسان دے . هغه به هغوی یقیناً په داسے ځائے کښې داخل کړی کوم چه به هغوی خوښ کړی

وَإِنَّ اللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿٥٩﴾ ذَٰلِكَ ۖ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ

او بیشکه الله | پوهه | برد باره دے | دا | او څوک چه | سختی وکړی | په مثل د هغې

او الله تعالیٰ بیشکه (د هغوی د حال نه) واقف او برد باره دے . دا او څوک چه د زیاتئ صرف دومره بدل واخلی څومره

مَا عُوقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِیَ عَلَیْهِ لَیَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه خومره سختی وشوه | په ده | بیا | ظلم وشو په هغهٔ | نو ضرور به مدد وکړی د هغه | الله | بیشکه | الله

چه دهٔ سره زیاتے شوے وی او بیا (دوباره) په دهٔ زیاتے وُشی نو الله تعالیٰ به ضرور دَدهٔ مدد وکړی بیشکه الله تعالیٰ

لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿۶۰﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ یُوْلِجُ الَّیْلَ فِی النَّهَارِ

معاف کوونکے | بخښونکے دے | دا | حُکه چه | الله | داخلوی | شپه | په ورځ کښے

ډیر معاف کوونکے او بخښونکے دے ۔ دا په دے وجه چه الله تعالیٰ شپه په ورځ کښے او

وَیُوْلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیْلِ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌۢ بَصِیْرٌ ﴿۶۱﴾

او داخلوی | ورځ | په شپه کښے | او بیشکه | الله | آورېدونکے | لیدونکے دے

ورځ په شپه کښے داخلوی ۔ او بیشکه چه الله تعالیٰ هرڅهٔ آوری هرڅهٔ وینی گوری

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا یَدْعُوْنَ

دا | حُکه چه | الله | رښتینے دے | او بیشکه | کوم لره چه | دوی بلی

دا امداد به حُکه (هم) کیږی چه صرف الله تعالیٰ حق دے او دا (کافران) چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا

مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِیُّ الْكَبِیْرُ ﴿۶۲﴾

سیوا دَ الله نه | هغه دروغ دی | او بیشکه | هم الله دے | عالیشان | ډیر لوئے

کوم معبودان بلی هغه باطل دی او په دے کښے شک نشته چه الله تعالیٰ اوچت دے لوئے دے ۔

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۫ فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ

آیا تهٔ نهٔ وینے | چه بیشکه الله | نازل کړے | له آسمان نه | او بهٔ | پس شی | زمکه

آیا تا دَ ته نهٔ گوره چه الله تعالیٰ دَ بره نه اُو بهٔ راوروی نو په هغے بانډی زمکه

مُخْضَرَّةً ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ ﴿۶۳﴾ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ

شنه | بیشکه الله | مهربان | خبردار دے | هم دَ هغهٔ دے څهٔ چه | په آسمانونو کښے دی

تکه شنه شی ۔ بیشکه چه الله تعالیٰ ډیر مهربان په هرڅهٔ خبر دے ۔ څهٔ چه په آسمانونو کښے دی

وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ ﴿۶۴﴾ اَلَمْ تَرَ

او څهٔ چه | په زمکه کښے دی | او بیشکه | الله | هم دے دے | بے نیازه | ستائیلے شوے | آیا نهٔ دی کتلی تا

او څهٔ چه په زمکه کښے دی ټول دَ الله تعالیٰ مال دے او الله تعالیٰ بے نیازه او دَ هر تعریف قابل دے آیا تا دے ته نهٔ دی

اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ

چه بیشکه الله | تابع کړل ستاسو | څهٔ چه په زمکه کښے دی | او کشتۍ | چه روانے دی | په دریاب کښے

کتلی چه الله تعالیٰ دَ زمکے (ټول) څیزونه ستاسو تابع کړی دی او کشتۍ هم چه دَ هغهٔ په حکم سره په دریاب

بِاَمْرِهٖ ؕ وَیُمْسِكُ السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ

دَ دهٔ په حکم | او هغهٔ راټینگ کړے دے | آسمان | له دے نه چه راپرېوزی | په زمکه بانډی | مگر دَ دهٔ په حکم

کښے چلیږی او هم هغهٔ آسمان ټینگ کړے دے چه په زمکه را دُ نهٔ غورزیږی مگر دَ هغهٔ په حکم سره

ع ۸ / ۷ / ۱۵

إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ

بیشکه الله | په خلقو باندې | ډیر مهربان | رحم کوونکے دے | او هم هغه دے | کوم چه | ژوندی کړی تاسو

بیشکه الله تعالی په بنیادمو باندې ډیر زیات مهربان رحم کوونکے دے. او الله هغه ذات دے کوم چه تاسو ئے پیدا کړئ

ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾

بیا به مړه کړی تاسو | بیا به | ژوندی کړی تاسو | بیشکه | بنیادم | خامخا ناشکره دے

بیا به درباندې مرګ راولی، بیا به مو (سر دوباره) ژوندی کړی خو په دې کښې شک نشته چه انسان ډیر ناشکره دے

لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ

د هر یو اُمت دپاره | مونږ مقرر کړی دی | یو طریقه د عبادت | چه دوی عمل کوونکی دی په هغې | پس جګړه دې نه کوی دوی تا سره

مونږ د هر اُمت دپاره (د عبادت) طریقه مقرر کړے په کوم چه هغوئی روان وی نو دوئی له پکار نه دی چه

فِي الْأَمْرِ ۚ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن

په دې معامله کښې | او بله (خلق) | د خپل رب طرف ته | بیشکه ته | خامخا په سمه لار یې. | او که چرے

تاسره په دې باره کښې جګړه کوی، او ته خلکیا او سه دوئی د خپل رب طرف ته رابله بیشکه ته په سمه لار یې او

جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ اللَّهُ يَحْكُمُ

جګړه کوی دوئی تاسره | نو ووایه | چه الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئی | الله به | فیصله وکړی

که دوئی تاسره جګړے کوی نو دوئی ته ووایه چه څه تاسو کوئی الله تعالی د هغې نه ښه واقف دے. الله تعالی به ستاسو

بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ

ستاسو په مینځ کښې | په ورځ | د قیامت | په هغه څه کښې چه تاسو په هغې کښې | اختلاف کوو | آیا تاسو ته معلوم نه دی

تر مینځه په هغې خبرو کښې په کومو کښې چه تاسو اختلاف کوئی د قیامت په ورځ فیصله وکړی، آیا تاسو ته

أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ

چه هم الله | پوهه دے | په هغه څه چه په آسمانونو کښې دی | او زمکه کښې دی | بیشکه دا (قول)

پوهیږئی چه په آسمانونو او زمکه کښې څه دی، هغه د الله تعالی په علم کښې دی، دا قول خبرے په کتاب

فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ

په کتاب کښې (درج) دی | بیشکه دا | الله د پاره | آسان دی | او | دوی عبادت کوی

(لوح محفوظ) کښې (درج) دی، بیشکه دا خبره الله تعالی د پاره ډیره آسانه ده، او (دا خلق) د الله تعالی نه

مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا

سیوا د الله نه | د هغه څیز چه | نه دے نازل کړے | د هغې | (الله څه) دلیل | او هغه (څیز)

سیوا د هغو عبادت کوی د څه په حق کښې چه الله تعالی څه دلیل نه دے نازل کړے او نه دوی ته

لَيْسَ لَهُم بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا

د کوم چه نشته دوی ته | علم | او نشته دے د ظالمانو | (څوک) مددګار | او هر کله

د دې څه علم شته، او د ظالمانو د پاره څوک مددګار نشته، او هر کله چه

تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ

لوستلے شي | په دوی باندې | زمونږ آیتونه | واضح | ته پیژنې ته | په مخونو | د هغو خلقو چه

دوي ته زمونږ ښکاره آیتونه لوستلے شي ، نو ته د کافرانو په مخونو باندې د خفګان

كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ؕ يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ

کافران دي | ناخوښي | نزدے کیږي دوي (چه) حمله وکړي | په هغو چه | لولي

بَصِيرٌ ﴿٧٥﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

بینا دے | هغه پوهیږي | څه چه | د دوی په مخکښې دي | او څه چه | د دوی شا ورو ستو دي

ډیر ښه وینی کوری . هغه ته د دوی وړاندې وروستو هر څه معلوم دی.

وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٧٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

او طرف د الله ته | بیرته ګرځولے شي | (ټول) کارونه | اے | خلقو ! | چه ایمان مو راوړے دے

او ټول کارونه په د الله تعالیٰ طرف ته واپس ګرځولے شي. اے د ایمان خاوندانو !

ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ

رکوع کوئ | او سجده کوئ | او عبادت کوئ | د خپل رب | او کوئ | نیکي

د هغه په وړاندې ټیټ شئ او سجده کوئ او د خپل رب عبادت کوئ او د نیکئ کارونه کوئ

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۩ ﴿٧٧﴾ وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ

چه تاسو | نجات بیا مومئ | او جهاد کوئ | د الله په لاره کښې | (داسې چه) حق دے د ده د جهاد

چه تاسو نجات بیا مومئ. او د الله تعالیٰ په لاره کښې داسې کوشش کوئ لکه څنګه چه په حقه سره پکار دے

هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ

ده غوره کړئ تاسو | او نه دے ایښے | په تاسو | (په باره د) دین کښې | (څه) تنګي

هغه تاسو له عزت درکړو او په تاسو د دین په حقله هیڅ قسم له تنګسیا رانه وستله

مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ

هغه دین دے | ستاسو د پلار | ابراهیم | هغه نام ایښے دے ستاسو | مسلمان

تاسو د خپل پلار ابراهیم په ملت (قائم او سیدږئ)، هغه په تاسو د مسلمانانو نامه ایښے دے.

مِنْ قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ

له دے نه وړاندې | او په دے (قرآن) کښې | چه وي | رسول | ګواه | په تاسو باندې

پخوا هم او اوس په دے (قرآن) کښې هم، د پاره د دے چه رسول په تاسو باندې ګواه شي

وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ

او یئ تاسو | ګواهان | په خلقو باندې | پس قائم کوئ | مونځ

او تاسو په نورو خلقو باندې ګواهان شئ ، نو همیشه د مونځ پابندي کوئ

وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ

او ورکوئ | زکوٰة | او مضبوط ونیسئ | الله | هم هغه دے

او زکوٰة ورکوئ ، او (د) الله (حکمونه) مضبوط ونیسئ. هغه ستاسو

مَوْلَاكُمْ ۖ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٧٨﴾

ستاسو کارساز | پس ځومره ښه | آقا | او ځومره ښه | مددګار دے

مالک دے ، نو ځومره ښه آقا او ځومره ښه پوخ مددګار دے.

السجدة عند الشافعي

ع ١٠

القرآن الکریم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّثَمَانَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ مؤمنون په مکه کښې نازل شوې ده | شروع د الله په نامه چه لوئ مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | کښې ۱۱۸ ایتونه او شپږ رکوع گانې دی

د الله په نامه شروع کوم چه لوئ مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

الجزء ١٨

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝١ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝٢

بیشکه | کامیاب شول | مسلمانان | هغه خلق چه | دوی | په مونځ خپل کښې | عاجزی کوونکی دی

یقیناً هغه مؤمنان کامیاب شول چه په خپلو مونځونو کښې عاجزی کوی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝٣ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ۝٤

او کوم چه | د فضول خبرو نه | مخ اړوونکی دی | او هغه خلق چه | دوی | زکوٰة | ورکوونکی دی

او کوم چه د فضول خبرو نه ځان ساتی. او هغه چه زکوٰة ادا کوونکی دی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝٥ اِلَّا عَلٰۤى اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا

او هغه خلق چه | دوی | د خپلو شرمگاهونو | حفاظت کوونکی دی | مگر په بیبیانو خپلو | یا (وینځو) چه

او هغه چه د خپلو شرمگاهونو حفاظت کوونکی دی. مگر د خپلو ښځو او د خپلو وینځو نه (دا

مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝٦ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ

د دوی په ملکیت کښې دی | نو بیشکه دوی | ملامته نه دی | پس څوک چه غواړی | سواله دے نه

احتیاط) نه کوی حکه چه په دے کښې ملامت نه دی. پس څوک چه د دے نه علاوه (د ښځو وغیره)

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝٧ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝٨

پس هم دا خلق | د حد نه تیریدونکی دی | او هغه چه دوی | د خپلو امانتونو | او د خپلې وعدې | لحاظ کوونکی دی

خواهش لری نو دا خلق د حد نه تیریدونکی دی او هغه څوک چه د خپلو امانتونو او د خپلو وعدو لحاظ ساتی

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝٩ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۝١٠

او هغه خلق چه | دوی | د خپلو مونځونو | حفاظت کوی | هم دا خلق دی | وارثان

وقف لازم

او هغه څوک چه د خپلو مونځونو حفاظت کوی. هم دا خلق حقیقی وارثان (او حقدار) دی

الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝١١ وَلَقَدْ خَلَقْنَا

کوم چه به | وارثان وی | د (جنت) فردوس | دوی به په دے کښې | همیشه وی | او بیشکه پیدا کړو مونږ

چه جنت فردوس به په میراث کښې اخلی او تل عمری به پکښې اوسیږی. او مونږه انسان د خاورې

الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ۝١٢ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۝١٣

انسان | د خلاصے | د خټې نه | بیا جوړه کړه مونږ هغه | نطفه | په قرارگاه | محفوظ کښې

د جوهر نه راپیدا کړو. بیا مونږ دا نطفه جوړه کړه (او) په یو محفوظ ځائے (رحم مادر) کښې مو وساتلو

ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا

بیا جوړه کړه مونږ | نطفه | ټوټه د وینې | بیا جوړه کړه مونږ | ټوټه د وینې | یو ټکې د غوښې | بیا جوړه کړه مونږ

بیا مو د هغې څاڅکی نه مایه وینه جوړه کړه. بیا مو د هغې مایه وینې نه (د غوښې) یو ټوټه جوړه کړه. بیا مو هغه

الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ لَحْمًا ۗ ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ؕ

بوټئ دَ غوښې | هډوكي | بيا مونږ واغوستله | هډوكوته | غوښه | بيا پيدا كړو مونږ دَ ئے | يو بل نوے مخلوق

بيا مو هغه پوټے هډوكي كړل بيا مو په هغو هډوكو باندې غوښه وخيژوله، بيا مو تر ے نه يو بل نوے مخلوق جوړ كړو

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ؕ ﴿١٤﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ؕ ﴿١٥﴾

پس لوئے دے | الله | دَ ټولو نه ښه | جوړوُنكے | بيا بيشكه تاسو | پس | له دے نه | مړه كيدونكى يئ .

نو مبارك دے هغه الله چه دَ ټولو نه ښه جوړوُنكے دے. بيا له دے نه پس به ضرور تاسو مرئ .

ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ

بيا | بيشكه تاسو به | په ورځ | دَ قيامت | راپورته كړے شئ | او بيشكه پيدا كړل مونږه | ستاسو پاسه | اووه

بيا به دَ قيامت په ورځ دَ نوى سره راژوندى كيږئ . او مونږ ستاسو دَ پاسه اووه آسمانونه

طَرَآئِقَ ۖ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿١٧﴾ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ

آسمانونه | او نه وو مونږ | دَ خپل مخلوق نه | غافله | او نازل كړے مونږ | له آسمان نه

جوړ كړل او مونږ (دَ خپل) مخلوق نه بے خبره نه يُو . او مونږ له آسمان نه په يوه اندازه

مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِى الْاَرْضِ ۖ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ بِهٖ

اوبه | په اندازه | پس ځائے دركړو مونږ دے ته | په زمكه كښے | او بيشكه مونږ | په لرے كولو | دَ دے (هم)

اوبه راووروے ، بيا هغه مونږ په زمكه كښے راايسارے كړے ، او بيشكه مونږ دَ دے په ختمولو باندې

لَقٰدِرُوْنَ ۚ ﴿١٨﴾ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّ

قادر يُو | بيا پيدا كړل مونږ | تاسو دَ پاره | په دے سره | باغونه | دَ كجورو | او

هم قدرت لرو ، بيا مونږ دَ دے (اوبو) په ذريعه تاسو دَ پاره دَ كجورو او انګورو باغونه

اَعْنَابٍ ۘ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۙ ﴿١٩﴾ وَشَجَرَةً

دَ انګورو | تاسو دَ پاره | په دے كښے | ميوے دى | ډيرے | او له دے نه | تاسو خورئ | او يوه ونه

پيدا كړل ، تاسو دَ پاره په دے كښے ډيرے ميوے دى او له دے نه خوراكونه هم كوئ ، او يوه بله ونه

تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿٢٠﴾

چه راوځي | له طور سينا نه | هغه راټوكيږي | په تيلو | او اينګولى سره | دَ خوړونكو دَ پاره

مے راپيدا كړه چه په طور سينا كښے راټوكيږي ، تيل په كښے پراته وي او دَ خوړونكو دَ پاره دَ اينګولى كار هم وركوى

وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهَا

او بيشكه | تاسو دَ پاره | په چارپايانو كښے | عبرت دے | مونږ څښوو تاسو ته | له هغه څه نه | چه دَ دوئ په خيټو كښے دى

او تاسو له په څاروُو كښے هم دَ سبق اخستو موقع ده ، مونږ په تاسو باندې دَ هغوى دَ خيټو نه څښوو او تاسو

وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۙ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا

او تاسو دَ پاره | په دے كښے | فائدے دى | ډيرے | او ځنے له دے نه | تاسو خورئ | او په دے باندې

له په دے كښے نورے ډيرے فائدے هم پرتے دى او له دے نه ځنے تاسو خورئ هم . او په دے څاروو

وقف لازم

وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ

او په کشتو باندې | تاسو سورولے شئ | او بیشکه رالیږلے وو موږ | نوح | ده د قوم طرفته | پس ده ووئیل

او په کشتۍ باندې تاسو سورولے شئ . او موږ نوح ده د قوم طرف ته ولیږلو ، نو ده ووئیل چه

يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾

اے زما قومه! | عبادت کوئ | د الله | نشته دے ستاسو | بل څوک معبود | سیوا د هغه نه | آیا تاسو نه ویریږئ

اے زما قومه! تاسو هم د الله تعالیٰ عبادت کوئ د هغه نه سیوا ستاسو بل معبود نشته ، نو آیا تاسو نه ویریږئ .

فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ

پس ووئیل | سردارانو | کوم چه | کافران وو | د ده له قوم نه | چه نه دے دا | مگر یو انسان | په شان ستاسو

نو د هغه د قوم سردارانو ووئیل کوم چه کافران وو ، چه دے خو ستاسو په شان یو انسان دے .

يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً

غواړي | چه | فضیلت حاصل کړي | په تاسو باندې | او که چرې غوښتے | الله | نو رالیږلے به ئے وے | فرښتے

دے غواړي چه په تاسو باندې خپل ځان اوچت کړي او که الله تعالیٰ (رسولان رالیږل) غوښتلے نو فرښتے به ئے رالیږلے وے

مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ

نه ده آورېدلے موږ | دا خبره | په پلارانو زمونږ کښې | چه مخکښې تیر شوی دي | نه دے هغه | مگر یو سړے | په کوم چه لیونتوب دے

موږ خو دا خبره د خپلو پخوانو مشرانو نه چرے آورېدلے هم نه ده دا خو یو داسے سړے دے چه د لیونتوب اثر پرې راغلے دے

فَتَرَبَّصُوا بِهِ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ انصُرْنِي بِمَا

پس انتظار وکړئ | د ده | ترڅه موده پورې | ده ووئیل | اے زما ربه! | زما مدد وکړه | په دے چه

نو تر یو وخته ورته انتظار وکړئ ــــ . نوح دعا وکړه چه اے زما ربه! زما مدد وکړه ځکه چه دوی

كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾ فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا

دوی زه دروغژن وګڼلم | پس موږ وحی وکړه | د ده طرف ته | چه تیاره کړه | کشتۍ | زمونږ د سترګو په وړاندې

زه دروغژن وګڼلم . نو موږ ورته حکم ولیږلو چه ته زمونږ په نګرانۍ کښې یوه کشتۍ جوړه کړه او

وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ ۙ فَاسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ

او په حکم زمونږ | پس هرکله چه راشي | زمونږ حکم | او جوش وکړي تنور | نو کښینوه | په دے کښې | له هر قسم نه

زمونږ په حکم ئے جوړه کړه نو هرکله چه زمونږ حکم (د عذاب) راورسیږي او د تنور نه اوبه راوخوټیږي نو د هر قسم ځناور

زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۖ

دوه جنسه (نر او ماده) | او خپل کور والا | سیوا | د هغه چا نه | چه وړاندې شوے دے | په هغه باندې | حکم | له دوی نه

نه دوه دوه په کښې جوړې کیږده او خپل کور والا هم ، خو هغه څوک په کښې مه پریږده چه د ډوبیدو حکم پرے شوے دے

وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۖ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِذَا

او خبرے مه کوه ما سره | د هغه چا په حقله | چه ظلم ئے کړے دے | بیشکه دوی | غرقیدونکي دي | پس هرکله چه

او د هغه خلقو په باره کښې ما سره خبره مه کوه کوم چه ظالمان دي هغوئ به خامخا ډوبیږي ، نو بیا څه وخت

اسْتَوَيْتَ اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ

سم کېنې | ته | او څوک چه | تاسره دی | په کشتۍ کښې | نو ووایه | ټول ستائنه

چه ته او ستا ملګري په بېړۍ کښې ځائے ونیسئ نو ته دا دُعا ووايه چه ډېرے ثنا لائق الله پاک دے

لِلّٰهِ الَّذِيْ نَجّٰىنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۸﴾ وَقُلْ رَّبِّ

الله دپاره ده | کوم چه | نجات راکړو مونږ ته | قوم | د ظالمانو نه | او ووایه | اے زما ربه!

چه مونږ ئے د ظالم قوم نه راخلاص کړو. او دا دعا کوه چه اے زما ربه!

اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

راکوزکړه ما | په منزل | مبارک کښې | او ته | ډېر ښه | راکوزونکے یې | بېشکه | په دے کښې

ما (د کشتۍ نه) د برکت په ځائے باندې کوز کړه او ته د ټولو نه ښه کوزونکے یې بېشکه په (واقعه) کښې ډېرې

لَاٰيٰتٍ وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿۳۱﴾

نخښې دی | او مونږ خو وو | امتحان کوونکی | بیا | مونږ پیدا کړله | پس له دوی نه | یو بل دله

(د عبرت) نخښې دی او مونږ خو ازمېښت کوونکی وو. بیا د دوی نه پس مونږ یو بل قوم راپیدا کړو.

فَاَرْسَلْنَا فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ

بیا ولیږلو مونږ | په دوی کښې | یو پیغمبر | له دوی نه | چه عبادت کوئ | د الله | نشته د ستاسو | بل څوک معبود

نو هغوئ ته هم د خپل (قوم) نه یو پیغمبر ورولیږلو (هغه پیغمبر ووئیل) چه تاسو د الله تعالیٰ عبادت کوئ، د هغه نه سیوا

غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ع ۲

سیوا د هغه نه | پس آیا تاسو نه ویرېږئ | او ووئیل | سردارانو | د ده له قوم نه | کوم چه | کافران وو

ستاسو بل معبود نشته نو آیا تاسو نه ویرېږئ؟ او د هغه د قوم سردارانو ووئیل، کوم چه منکر وو

وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ

او دروغ ئے ګڼړلو | ملاقات | د آخرت | او مونږ عیش و آرام ورکړے وو دوئ ته | په ژوند | د دنیا کښې

او د آخرت راتلل ئے دروغ ګڼړل او مونږ ورله په دنیا کښې د راحت او عیش سامانونه ورکړی وو.

مَا هٰذَاۤ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ

نه دے دا | مګر | یو انسان | په شان ستاسو | خوری | له هغه څه نه | چه تاسو ئے خورئ

چه دے خو ستاسو په شان یو سړے دے، هغه څه خوری کوم چه تاسو خورئ،

وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ

او څښی | له هغه څه نه | چه څښئ ئے تاسو | او که چرے | تاسو خبره ومنله | د بنیادم | په شان ستاسو

او هغه څه څښی کوم چه تاسو څښئ، او که تاسو د ځان غوندې د یو سړي فرمان په ځان و منلو، نو

اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَيَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ

نو بېشکه تاسو به | د هغه وخت | نقصان موندونکی یئ | آیا د وعده کوی تاسو سره | چه هر کله تاسو | مړه شئ | او شئ تاسو

بیا خو تاسو په سوده تاوان کښې پرېوتلئ. دا سړے خو تاسو ته وائی چه هر کله تاسو مړه شئ او خاورې

تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا

خاورې | او | هډوکی | نو تاسو به (دوباره) راوویستلی شئ | لرې دې | لرې دې | هغه څیز چه

او هډوکی شئ، نو بیا به (د نوي سره) راوویستلی شئ. (د عقل نه) ډیره لرې ده ډیره لرې ده، دا

تُوْعَدُوْنَ ﴿٣٦﴾ اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا

تاسو سره یې وعده کولې شي | (نور څه) نه دی | مګر | (هم دا) زمونږ ژوندانه دے | د دنیا | مونږ مرو | او مونږ ژوندي کیږو

وعده چه تاسو سره کولې شي، زمونږ دا ژوند خو صرف هم د دنیا ژوند دے چه څوک مري او څوک پیدا کیږي

وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلُ افْتَرٰى

او نه به | یو مونږ | دوباره راپاڅولی شوي | نه دے | دے | مګر یو سړے | چه جوړوي

او مونږ به د مرګ نه پس (بیا) هیچرے نه راپاڅو. دا خو یو داسې سړے دے چه په الله تعالی باندے

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا وَّمَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ

په الله باندې | دروغ | او نه یو مونږ | د ده | منونکی | ده ووئیل | اے زما ربه!

دروغ جوړ کړي دي او مونږ هیڅ کله د ده خبره منونکي نه یو. نو (پیغمبر) دعا وکړه چه اے زما ربه!

انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ﴿٤٠﴾

زما مدد وکړه | ځکه چه | دوی زه دروغژن وګڼلم | الله وفرمائیل | په لږه موده کښې | دوی به خامخا شي | پښیمانه

نه زما مدد وکړه ځکه چه دوی زه دروغژن ګڼلے یم. (الله ورته) ووئیل چه دا خلق به ډیر زر (په خپلو خبرو) پښیمانه شي

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً فَبُعْدًا

پس ونیول دوی | یو سخت آواز | په انصاف | پس کړل مونږ دوی | ریزه ریزه | پس لرې والے دے (د رحمت)

نو بیا یو سخت آواز په حقه هغوی راونیول، نو مونږ دوی ریزه ریزه کړل او ظالمان خلق (د رحمت نه)

لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤١﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿٤٢﴾

ظالمانو خلقو د پاره | بیا | پیدا کړل مونږ | پس له دوی نه | امتونه | نور

ډیر لرې پریوتل. بیا مونږ د هغوی نه پس څئے نور قومونه راپیدا کړل.

مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ اَرْسَلْنَا

نه شي وړاندې کیدے | هیڅ یو امت | له خپل مقرر وخت نه | او نه | وروستو پاتې کیدے شي | بیا | ولیږل مونږ

هیڅ یو امت د خپلې نیټې نه نه شي وړاندې کیدے او نه وروستو پاتې کیدے شي، ورپسې مونږه خپل

رُسُلَنَا تَتْرَا كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا كَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا

پیغمبران خپل | پرله پسې | هر کله چه به | راغے | یو امت ته | پیغمبر د هغوی | نو دوی به دروغژن وګڼلو | پس راوستل مونږ

پیغمبران پرله پسې راولیږل، څه وخت چه به یو امت ته خپل پیغمبر ورغے نو هغوی به دروغژن وګڼلو، نو

بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ

څنې د دوی | په څنو پسې | او کړل مونږ دوی | قصې | پس لرې والے دے | هغه خلقو له

مونږه هم (پیغمبران) یو په بل پسې ورولیږل او د هغه خلقونه مو قصې جوړې کړې نو چا چه ایمان نه راوړو

لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٤٤ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا
چه ایمان نه راوړي | بیا | ولیږلو موږ | موسٰی | او ورور د هٔ | هارون | په خپلو معجزو
هغوئ (د رحمت نه) لرے پریوتل ـ بیا موږ د موسٰی ؑ او د هغهٔ ورور هارون ؑ را ولیږل د خپلو حکمونو

وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝٤٥ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا
او دلیل | روښانه (سره) | طرف د فرعون ته | او د هغهٔ سردارانو ته | نو دوئ تکبر وکړو | او وو دوی
او ډ څرګنده دلیل سره ـ فرعون ته او د هغهٔ سردارانو ته ، مګر هغوئ تکبر وکړو او هغه (ډیر) سرکښه

قَوْمًا عَالِيْنَ ۝٤٦ فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا
قوم | کبر کوونکی | پس دوی وویل | آیا موږ ایمان راوړو | په دوو سړو | چه په شان زموږ دی | او قوم د دوی
خلق وو ـ نو هغوئ وویل چه آیا موږ په (داسې) دوو کسانو باندې ایمان راوړو؟ (چه) زموږ په شان بشر دي حال دا چه د

لَنَا عٰبِدُوْنَ ۝٤٧ فَكَذَّبُوْهُمَا فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ۝٤٨ وَلَقَدْ
زموږ | غلامان دی | پس دوی دروغژن وګڼل دا دواړه | نو دوی شول | له هلاکیدونکو نه | او بیشکه
چه د دوی د قوم خلق زموږ غلامان دی نو هغوئ دواړه (پیغمبران) دروغژن وګڼل پس هغوئ هلاک کړے شول ، او

اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ۝٤٩ وَجَعَلْنَا
ورکړو موږ | موسٰی ؑ ته | کتاب | شاید چه دوی | سمه لار بیا مومی | او جوړ کړو موږ
موږ موسٰی ؑ ته (تورات نومے) کتاب ورکړو چه خلق شرے نه سمه لار بیا مومی ، او موږ د مریم ځوئے

ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗٓ اٰيَةً وَّاٰوَيْنٰهُمَآ اِلٰى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ
ځوئے د مریم | او مور د هٔ | نخښه | او موږ پناه ورکړه دواړو له | په یوه اوچت ځائے | د استوګنې قابل
او د هغهٔ مور یوه غټه او څرګنده نخښه وګرځوله او هغوئ له موږ په یوه اوچته ځمکه پناه ورکړه چه د استوګنې

وَّمَعِيْنٍ ۝٥٠ يٰٓاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا
او اوبو والا (ځمکه کښې) | اے رسولانو! | خورئ | له پاکیزه څیزونو نه | او عمل کوئ
قابله او جاري اوبو والا وه ـ اے زما پیغمبرانو! تاسو ټول پاکیزه څیزونه خورئ او تل د نیکئ کارونه

صَالِحًا ۭ اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ۝٥١ وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ
نیک | بیشکه زهٔ | په هغه څهٔ | چه تاسو کوئ | ښهٔ پوهیږم | او بیشکه | دا | ستاسو اُمت دے
کوئ ، زهٔ ستاسو په کارونو ښهٔ خبر یم ـ او بیشکه ستاسو دا اُمت هم یو

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ۝٥٢ فَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ
اُمت | هم یو | او زهٔ | ستاسو رب یم | پس له ما نه ویریږئ | پس جُدا جُدا کړو دوی | خپل کار
اُمت دے ـ او زهٔ ستاسو رب یم نو تاسو زما (د نافرمانئ) نه وویریږئ ـ بیا خلقو د دین په معامله

بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۭ كُلُّ حِزْبٍۢ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ۝٥٣
په خپل مینځ کښې | ټوټه ټوټه | هره یوه | ډله | په هغه څهٔ | چه دوی سره دی | خوشحاله دی
کښې خپل ځان جدا جدا کړو ، هره یوه ډله هم په خپله خبره باندې خوشحاله ده ـ

ع ٣ ١٨

فَذَرْهُمْ فِیْ غَمْرَتِهِمْ حَتّٰى حِیْنٍ ﴿۵۴﴾ اَیَحْسَبُوْنَ اَنَّمَا

پس پرېږده دوی | په غفلت د دوی کښې | ترخهٔ موده پورې | آیا گمان کوی دوی | چه هغه څه چه

نو ته دوی ترېو خاص وخته پورې په خپل غفلت کښې ډوب پرېږده ، آیا دوی دا گمان کوی چه مونږ

نُمِدُّهُمْ بِهٖ مِنْ مَّالٍ وَّبَنِیْنَ ﴿۵۵﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِی الْخَیْرٰتِ

مونږ مدد کوو د دوی | په مال | او اولاد سره | مونږ تلوار کوو | د دوی د پاره | په ښیگړه کښې

دوئ له کوم مالونه او ځامن ورکوو ، نو دا گنی مونږ ورته زر زر فائدے رسوو ؟ داخبره نهٔ

بَلْ لَّا یَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ هُمْ مِّنْ خَشْیَةِ رَبِّهِمْ

بلکه | دوی نهٔ پوهېږی | بیشکه هغه چه | له وېرے | د خپل رب نه

ده بلکه دوئ نهٔ پوهېږی . بیشکه څوک چه د خپل رب د هیبت نه اندېښنه

مُّشْفِقُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِیْنَ هُمْ بِاٰیٰتِ رَبِّهِمْ یُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۸﴾ وَالَّذِیْنَ

ناقلاره دی | او هغه خلق | چه هغوئ په آیتونو | د رب خپل | ایمان لری | او هغه خلق چه

ساتی . او څوک چه د خپل رب په نخښو باندې باور ساتی . او څوک چه د

هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا یُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَالَّذِیْنَ یُؤْتُوْنَ مَاۤ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ

هغوئ خپل رب سره | شریک نهٔ مقرر وی | او هغه خلق چه | ورکوی | هغه څهٔ چه ورکوی | او زړونه د دوی

خپل رب سره بل هیڅوک نهٔ شریکوی . او څوک چه ورکړه کوی څومره چه کوی ، او زړونه ئے د

وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴿۶۰﴾ اُولٰٓئِكَ یُسٰرِعُوْنَ

په وېره دی | چه دوی | د خپل رب طرف ته | واپس تلونکی دی | هم دا خلق دی | چه تندی کوی

دے نه ترهه کوی چه دوی له یوه ورځ خپل رب طرف ته واپس تلل دی . هم دغه خلق دی چه چټکے فائدے

فِی الْخَیْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا

په نیکو کارونو کښې | او دوی | طرف د هغه ته | وړاندې کیدونکی دی | او تکلیف نهٔ ورکوو مونږ | یو نفس ته | مگر د ده د طاقت مطابق

په منډه منډه حاصلوی او هم دا خلق په دے کښے وړاندې کیدونکی دی او مونږ په هیچا باندې د وس نه زیات تکلیف نهٔ

وَلَدَیْنَا كِتٰبٌ یَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۶۲﴾ بَلْ

او مونږ سره | یو کتاب دے | چه بیان به کوی | حقه خبره | او په دوی به | ظلم نهٔ شی کولے | بلکه

اچوو او مونږ سره یو کتاب دے چه همیشه حقه خبره ښائی او په خلقو به ذرے ذرے هومره ظلم نهٔ کیږی

قُلُوْبُهُمْ فِیْ غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا وَلَهُمْ اَعْمَالٌ مِّنْ دُوْنِ

د دوی زړونه | په غفلت کښے دی | له دے نه | او دوی د پاره | (نور) عملونه دی | علاوه

نا بلکه د دے کافرانو زړونه د دین د طرف نه غافل پراته دی ، او د دے نه علاوه څهٔ نور (خراب) کارونه

ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عٰمِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَخَذْنَا مُتْرَفِیْهِمْ

د دے (غفلت) نه | چه دوی هغه | کوی | ترڅو چه | هر کله | مونږ ونیسو | د دوی خوشحاله خلق

دی چه دا خلق ئے کوی ، ترڅو چه هر کله مونږ د دوی مالداره خلق په عذاب کښے

بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْـَٔرُونَ ﴿٦٤﴾ لَا تَجْـَٔرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُمْ مِّنَّا

په عذاب کښې | ناګهانه به دوی | فریاد کوی | فریاد مه کوئ | نن ورځ | بیشکه تاسو به | زمونږ له طرفه

را ونیسو، نو دوی دعوخت چغې کړي (ورته به ووېیلے شي) چه نن چغې مه وهئ ولې چه زمونږ له طرف

لَا تُنْصَرُونَ ﴿٦٥﴾ قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ

مدد نه شي درکولے | بیشکه | دوه آیتونه زمونږ | چه لوستلے به شول | په تاسو | نو وئ به تاسو | په پوندو خپلو

نه به ستاسو مدد نه کیږي، زما آیتونه به تاسو ته لوستلے شول، نو تاسو به ترے نه مخ په شا

تَنْكِصُوْنَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا

بیرته ګرځیدلئ | کبر کوونکي | په دے قرآن | په افسانه مشغول شوي | تاسو به پریښودلو | پس آیا دوی غور نه کوی

تښتیدلئ، غرور به مو کولو، قصئ به مو ترے نه جوړولے، بیهوده به لګیا وئ. آیا دوی په دے

الْقَوْلَ اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَأْتِ اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾ اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا

په دے کلام کښې | یا راغلی دی دوی ته | هغه څه چه نه وو راغلی | پلرانو د دوی | پخوانو ته | یا دوی نه پیژندلو دوی

کلام باندې غور ونه کړو یا دوی ته داسے څه علم راغلے دے چه د دوی وړاندېنو مشرانو ته نه وو راغلے. یا دوی خپل

رَسُوْلَهُمْ فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ

پیغمبر خپل | پس دوی | له هغه نه | انکار کوی؟ | یا | دوی وائي چه | په دهٔ | لیونتوب دے

پیغمبر ونه پیژندلو او د دے په وجه دوی منکر پاتے شول یا دوی داوائي چه دے سوداني دے؟

بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَوِ اتَّبَعَ

بلکه | دهٔ خو راوړے دے دوی ته | حق | او اکثر له دوی نه | حق | نه خوښوی | او که چرے پیروی کولے

نا بلکه هغهٔ خو ورته رښتینے خبره راوړے ده او په دوی کښې په اکثرو خلقو باندې رښتیا بد لګي او که چرے رښتینے

الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ۭ بَلْ

حق | د دوی د خواهشونو | نو به انتظام شوی به وو | آسمانونه | او زمکه | او هغوی چه په مینځ د دوی کښې دی بلکه

خدائے پاک د دوی په خوښه تلے وے نو آسمانونه او زمکه او څه چه په دے کښې دی تباه شوی به وو، بلکه

اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٧١﴾ ۭ اَمْ تَسْـَٔــلُهُمْ

ورکړے دے مونږ دوی ته | د دوی نصیحت | پس دوی | د خپل نصیحت نه | مخ اړوی | یا ته غواړے له دوی نه

مونږ خو دوی ته سودمنده خبره ورولیږله خو دوی د سودمنې خبرے نه (هم) مخ اړوی آیا ته د دوی

خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ڰ وَّهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٧٢﴾

څه مزدوری؟ | پس مزدوری | ستا د رب | غوره ده | او دے | ډیر ښهٔ | رزق ورکوونکے دے

نه څه معاوضه غواړے؟ معاوضه خو ستا د رب د ټولو نه ښهٔ ده او هغه د ټولو نه ښهٔ رزق ورکوونکے دے

وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

او بیشکه ته | رابلے دوی | طرف د لارے سمے ته | او بیشکه | کوم خلق چه | ایمان نه راوړی

او بیشکه ته دوی سمے لارے طرف ته رابلے. او بیشکه هغه خلق چه په آخرت باندې

بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ

په آخرت باندې | له دغه لارې نه | یو طرف ته شوي دي | او که چېرې مونږ رحم وکړو په دوی | او لرې کړو | څه چې په دوی دي

ایمان نه لري (صفوی دړسمې) لارې نه بې لارې شوي دي او که مونږ په دوی باندې رحم وکړو او د دوی تکلیف

مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا فِیْ طُغْیَانِهِمْ یَعْمَهُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ

تکلیف | نو خامخا به ټینګ اوسي دوی | په خپله سرکشۍ کښې | سرګردانه شوي | او بېشکه ونیول مونږ دوی

لرې کړو ، نو بیا به هم دوی په خپله ګمراهۍ کښې سرګردان سرګړي ګرځي . او مونږ دوی په عذاب

بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا یَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٧٦﴾ حَتّٰۤی

په عذاب کښې | پس ونه کړله دوی عاجزي | د رب خپل ته | او نه زاري وکړله دوی | تر دې چې

کښې رانیولي وو ، خو بیا هم نه خپل رب ته ټیټ شول او نه ئې ورته زاري وکړه . تر دې چې هر کله

اِذَا فَتَحْنَا عَلَیْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِیْدٍ اِذَا هُمْ فِیْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٧﴾

پرانستله مونږ | په دوی باندې | دروازه | د عذاب | سخت نو دغه وخت دوی | په دې کښې | ناامیده شول .

مونږ په دوی باندې د سخت عذاب دروازه پرانستله نو بیا دوی په دې کښې ناامیده شول .

وَهُوَ الَّذِیْۤ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِیْلًا مَّا

او الله هم هغه دې چا چې | پیدا کړل تاسو د پاره | غوږونه | او سترګې | او زړونه | ډېر لږ

او الله تعالیٰ هغه ذات دې چې تاسو له ئې غوږونه ، سترګې او زړونه ورکړل ، خو تاسو ډېر

تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ الَّذِیْ ذَرَاَكُمْ فِی الْاَرْضِ وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٩﴾

تاسو شکر کوئ | او هم هغه دې چا چې | خواره کړي تاسو | په زمکه کښې | او طرف د هغه ته به | تاسو جمع کولې شئ

کم شکر کوئ . او الله تعالیٰ هغه ذات دې چې تاسو ئې د زمکې په مخ خواره کړي یئ او هم د هغه طرف ته به تاسو جمع

وَهُوَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّیْلِ

او دې هغه ذات دې | چې ژوندي کوي | او مړه کوي | او هم د ده (اختیار) دې | بدلول | د شپې

کولې شئ او هم هغه دې چې ژوندي ورکوي او وژل کوي او د شپې ورځې اړول راړول د هغه په

وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٨٠﴾ بَلْ قَالُوْا مِثْلَ مَا قَالَ

او د ورځې | پس آیا تاسو عقل نه لرئ | بلکه | دوی ووئیل | په شان | د هغه څه چې | وئیلي وو

قدرت کښې دي ، نو آیا تاسو د عقل نه کار نه اخلئ ؟ بلکه دا خلق هم هغسې خبرې کوي لکه چې پخوانو

الْاَوَّلُوْنَ ﴿٨١﴾ قَالُوْۤا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا

پخوانو خلقو | دوی وائي | آیا هر کله چې مونږ مړه شو | او شو مونږ | خاوړې | او هډوکي | آیا مونږ به

(کافرانو) کړي دي . دوی وائي چې هر کله مونږ مړه شو او خاوړې او هډوکي شو ، نو آیا لا بیا به

لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٨٢﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ

(دوباره) راپاڅولې شو | بېشکه | وعده شوې ده | مونږ سره | او د پلارانو زمونږ سره | هم دا | وړاندې له دې نه

ژوندي راپاڅولې شو ؟ دا سې وعدې خو مونږ سره او زمونږ مشرانو سره پخوا راسې کیږي

إِنْ هٰذَآ إِلَّآ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾ قُلْ لِّمَنِ الْأَرْضُ

نه دی دا | مگر | قصے | د پخوانو خلقو | ووایه | د چا ده | زمکه

داقول هیڅ هم نه دی ته د پخوانو خلقو بے سنده خبرے دی. (اے پیغمبره!) ته ورته ووایه چه بنه دا

وَمَنْ فِيهَآ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ

او هغه څه | چه په دے کښے دی | که چرے تاسو پوهیږئ؟ | دوی به زر وائی | د الله | ووایه

زمکه او د دے د پاسه ټوسیدونکی خلق تول د چا (مخلوق) دی که تاسو ترڅه خبریږئ؟ دوی به ضرور ووائی چه دا ټول د

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ

پس آیا نه | قبلوئ تاسو نصیحت | ووایه | څوک دے | رب | د اوو آسمانونو | او رب

الله (مخلوق) دی نو ورته ووایه چه بیا نو بیا فکر ولے نه کوئ؟ ورته ووایه! چه د اوو واړو آسمانونو رب څوک دے او لوے

الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾

د عرش | عظیم | دوی به زر وائی | الله | ووایه | پس آیا تاسو نه ویریږئ؟

عرش خاوند څوک دے؟ دوی به جواب ورکړی چه دا هرڅه د الله دی نو ورته ووایه چه تاسو ترے نه ولے نه ویریږئ؟

قُلْ مَنْ بِيَدِهٖ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ

ووایه | څوک دے | چه په لاس د هغه کښے | حکومت | د هر څیز دے | او هم هغه پناه ورکوی | او نه شی پناه ورکیدے

ورته ووایه چه هغه څوک دے چه د هغه په لاس کښے د هر څیز واک اختیار دے او هغه پناه ورکوی او د هغه په مقا

عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ فَأَنّٰى

د هغه خلاف | که چرے تاسو پوهیږئ؟ | زر به دوی وائی | الله | ووایه | بیا د کوم ځائے نه

کښے څوک چا له پناه نه شی ورکولے که چرے تاسو پوهیږئ (نو ووایئ) نو دوی به فوراً ووائی الله! نو ورته ووایه چه

تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾ بَلْ أَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾

په تاسو جادو کولے شی | بلکه | راوړے مونږ دوی ته | حقه خبره | او بیشکه دوی | دروغژن دی۔

بیا په تاسو لوے غارے نه جادو وشی؟ بلکه مونږ دوی ته حقه خبره رسولے ده او دوی یقیناً دروغژن دی۔

مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ إِلٰهٍ إِذًا

نه دے نیولے | الله | هیڅ اولاد | او نشته دے | د ده سره | څوک بل معبود | دغه وخت به

الله تعالیٰ هیڅوک خان له ځوئے کړے نه دے او نه هغه سره بل معبود شریک شته، که داسے وے

لَّذَهَبَ كُلُّ إِلٰهٍۢ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ

وړل | هر | معبود | څه چه هغه پیدا کړی وو | او غالب به راتلو | یو په دوی کښے

نو هر یو معبود به خپل مخلوق خان له بیل کړے وو ، او بیا به ئے په یو بل باندے حملے

عَلٰى بَعْضٍ ۚ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ عٰلِمِ

په بل باندے | پاک دے | الله | له هغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی | پوهه دے

کولے۔ الله تعالیٰ د هغه خبرو نه پاک دے کومے چه دوئی د هغه په حقله بیانوی هغه په پټو

الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٩٢﴾ قُلْ

په پټو | او په ښکاره (خبرو) | پس ډير اوچت دے | له هغه څه نه | چه شريکوي ئے دوي | ووايه

او په ښکاره ټولو خبرو باندې ډير ښه پوهه دے . غرض دا چه د دوي د شرک د خبرو نه پاک دے (اے پېغمبره!) ته

رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ

اے زما ربه! | که چرے | ته وښائے ما ته | هغه (عذاب) | د کوم چه دوي سره وعده کولے شي | چه اے زما ربه!

ووايه چه اے زما ربه! که ته ما ته هغه عذاب ښودل غواړے د کوم چه دوي سره وعده شوے ده نو اے

فَلَا تَجْعَلْنِيْ فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَاِنَّا عَلٰٓى اَنْ نُّرِيَكَ

نو مه شاملوه ما | په قوم د ظالمانو کښې | او بيشکه موږ | په دے چه | وښايو تا ته

زما ربه! ما په دے ظالمانو کښې مه شاملوه . او موږ په دے خبره پوره قدرت لرو چه کوم

مَا نَعِدُهُمْ لَقٰدِرُوْنَ ﴿٩٥﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

هغه څه چه وعده ئے کوو دوي سره | قادريو | مقابله وکړه | په داسے طريقه | چه ډيره ښه وي

وعده کې موږ دوي سره کوو هغه تا ته هم وښايو . (اے پېغمبره!) ته د بدے خبرے په جواب کښې هغه وايه کوم

السَّيِّئَةَ ؕ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَصِفُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُبِكَ

د بدئ | موږ | ډير ښه پوهيږو | په هغه څه چه دوي بيانوي | او ووايه | اے ربه زما! | زه پناه غواړم ستا

چه غوره ده او څه چه دوي بيانوي هغه موږ ته ډير ښه معلوم دي او دعا وکړه چه اے زما ربه! زه د شيطانانو له

مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ ﴿٩٧﴾ وَاَعُوْذُبِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿٩٨﴾

وسوسو نه | د شيطانانو | او زه پناه غواړم ستا | اے زما ربه! | چه دوي راشي ما ته

وسوسو نه تا سره پناه غواړم . او اے زما ربه! زه له دے خبرے نه هم ستا پناه غواړم چه هغوئ ما له راشي

حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿٩٩﴾

ترڅو چه | هر کله راشي | يو ته له دوي نه | مرګ | نو وائي به | اے زما ربه! | بيرته وګرځوه ما

ترڅو چه هر کله په دوي کښې چا له مرګ راشي نو وائي اے زما ربه! ما دوباره دنيا ته ولېږه .

لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ

کيدے شي چه | زه عمل وکړم | نيک | په هغه (دنيا) کښې | چه پريښے ده ما | هيڅ کله نه! | دا خو يوه خبره ده | چه دے

د پاره د دے چه کوم (دنيا) م پريښے ده په هغه کښې څه نيک کارونه وکړم ! هيڅ کله نه . دا خو هسے يوه خبره ده

قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٠٠﴾

ويونکے د هغے دے | او د دوي د وړاندې (خو) | يوه پرده ده | تر هغه ورځې پورے چه | دوي به (دوباره) راپاڅولے شي

چه دغه کافرے وائي او د دوي مخے ته به يوه پرده وي تر هغه وخته پورے چه هر کله دوي دوباره راژوندي کړے

فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١٠١﴾

پس هر کله چه پو کے وو هلے شي | په شپيلئ کښې | نو نه به رشتے وي | د دوي په مينځ کښې | په دغه ورځ | او نه به څوک د يو بل تپوس کوي

شي ، نو څه وخت چه شپيلئ پوک وهلے شي نو نه به د دوي تر مينځه خپلولئ پاتے وي او نه به څوک د چا تپوس کوي .

فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَمَنْ

پس دچاچه | درنه شو له | تله (د نيکو) | نو هم هغه به وي | کامیاب | او د چا چه

نو چه د چا (د عمل) تله درنه شي نو هغه کسان به کامیاب شي ۔ او د چا چه (د عمل)

خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

سپکه شوه | تله (د نيکو) | پس هم دغه خلق دي | کوموچه | نقصان کړے ؤ ساتل | خپل ځانونه

تله سپکه پاتے شي ، نو دا هغه خلق دي چه خپل ځانونه ئے د خپله لاسه برباد کړل ، او

فِيْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيْهَا

په دوزخ کښے به | دوي هميشه اوسيدي | وُبه سوزوي | مخونه د دوي | اور | او دوي به | په دې کښے

هميشه به په دوزخ کښے اوسيږي (د دوزخ) اور به د دوئ مخونه وُسوزوي او هلته به د دوي مخونه وران

كٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

بد صورته وي | آيا زما ايتونه نه شول لوستلے | په تاسو | نو تاسو به هغه | دروغ ګڼړل ۔

شي ۔ آيا زما حکمونه به تاسو ته نه شو اورولے ؟ او تاسو به هغه دروغژن ګڼړل ۔

قَالُوْا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ ﴿۱۰۶﴾

دوئ به وائي | اے زموږ ربه! | غالبه شوه | په موږ باندې | بدبختي زموږ | او وُو موږ | يو ډله | بے لارے ۔

هغوئ به وائي چه اے زموږ ربه! موږ ته بد بختي راګير کړي وه او موږ د لارے نه بے لارے شوي خلق وُو ۔

رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ قَالَ

اے زموږ ربه | وُباسه موږ | له دې نه | بيا که چرے | موږ دوباره وکړو | نو بيشکه موږ به | ظالمان يُو | وُبه فرمائي

اے زموږ ربه! اوس موږ د دې دوزخ نه وُباسه، که موږ دوباره داسے کارونه وکړو نو بيشکه موږ به ظالمان يُو الله تعالیٰ به

اخْسَئُوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ

لرے شئ تاسو | هم په دې کښے به يئ | او ما سره خبرے مه کوئ | بيشکه هغه | وه | يوه ډله | زما له بندګانو نه

وُفرمائي چه لرے شئ هم په دې کښے پراته وُسئ او ما سره خبرے مه کوئ ، حقيقت دا دے چه زما د بندګانو يوه ډله وه چه دا

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ

دوي به ويل | اے زموږ ربه! | موږ ايمان راوړے | پس وُبخښه | موږ | او رحم وکړه په موږ | او ته | د ټولو نه بهتر

دُعا به ئے کوله چه اے زموږ ربه! موږ ايمان راوړے دے نو ته راته بخښنه وکړه او رحم را باندې وکړه او ته د هر چا نه زيات

الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ

رحم کوونکے يئے | نو کولے به تاسو د هغوئ سره | ټوقے | ترڅو چه | دوي هېر کړه د تاسو نه | زما ياد

رحم کوونکے يئے ، نو تاسو هغوئ پورے ټوقے وکړے ترڅو چه (دغه مشغولا) درنه زما هېر کړم

وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ اِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْٓا

او تاسو به | هغوئ پورے | خندا کوله | بيشکه ما | بدله ورکړه دوي ته | نن ورځ | په بدله کښے د دوي د صبر

او تاسو لګيا وئ په هغوئ پورے موخندا کولو کولے ۔ نن ما هغوئ ته د صبر بدله داورکړه چه يو ازے

اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿١١١﴾ قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِی الْاَرْضِ عَدَدَ

هم دوی دی | مراد ته رسیدونکی | وبه وائی (الله) | څومره موده | پاتې شوی وئ تاسو | په زمکه کښې | په شمیر

هغوئ (بسم پوره) کامیاب شول. ورته به وائی چه (بنه) تاسو د کلونو په حساب څومره موده په زمکه

سِنِیْنَ ﴿١١٢﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا یَوْمًا اَوْ بَعْضَ یَوْمٍ فَسْـَٔلِ الْعَآدِّیْنَ ﴿١١٣﴾

د کلونو | دوئ به ووائی | پاتې شوو مونږ | یوه ورځ | یا څه | د ورځې | پس پوښتنه وکړه | له شمیرکوونکو نه

استوګن پاتې وئ؟ هغوئ به ووائی چه یوه ورځ تقریبا پاتې وو یا د ورځې نیمه حصه به وه، د شمیرکوونکو (فرښتو) نه پوښتنه

قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِیْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١١٤﴾ اَفَحَسِبْتُمْ

وبه فرمائی | نه وئ پاتې شوی تاسو | مګر | لږه موده | کاش ـــ چه تاسو | پوهیدلی | پس آیا تاسو خیال کړے وو

وکړه. (الله به) وفرمائی چه تاسو (په دنیا کښې) ډیره نه بلکه لږه موده پاتې وئ که تاسو پوهیږئ. آیا ستاسو دا خیال وو

اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَیْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿١١٥﴾ فَتَعٰلَی

چه بیشکه | مونږ پیدا کړی وئ تاسو | بے کاره | او چه تاسو به | زمونږ طرف ته | نه شئ راګرځولے | پس ډیر اوچت دے

چه مونږ تاسو بے فائدے پیدا کړی یئ او دا چه تاسو به زمونږ طرف ته واپس نه راګرځئ. هغه الله چه بادشاه

اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِیْمِ ﴿١١٦﴾

الله | بادشاه | حقیقی | نشته دے بل څوک معبود | سیوا د هغه نه | مالک دے | د عرش | قدرمند

حقیقی دے د هغه شان اوچت دے د هغه نه سیوا بل معبود نشته، هغه د عزت والا د عرش مالک دے.

وَمَنْ یَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا

او څوک چه | وبلی | الله سره | معبود بل | چه نشته دے څه دلیل | د ده سره | د دے | نو بیشکه چه

او څوک چه د الله سره د بل معبود بلنه کوی ـــ، سره د دے چه هیڅ دلیل ورسره پرے نشته نو د هغه

حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿١١٧﴾ وَقُلْ رَّبِّ

حساب د ده | د ده د رب سره دے | بیشکه خلاصے به نه مومی | کافران خلق | او دوایه | اے زما ربه!

حساب به خامخا د خپل رب سره کیږی، دا یقینی ده چه کافران کامیابیږی نه شی او ته دا دوایه چه اے زما ربه!

اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿١١٨﴾

عفوه وکړه | او رحم وکړه | او ته | د ټولو نه ښه | رحم کوونکے یې.

ما وبخښه او په ما رحم وکړه او ته د ټولو نه ښه رحم کوونکے یې.

سُوْرَةُ النُّوْرِ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ اَرْبَعٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | وَّسِتُّوْنَ اٰیَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة نور په مدینه کښې نازل شوے | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښې ۶۴ آیتونه او ۹ رکوع دی

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِیْهَاۤ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ

دا یو سورت دے | چه نازل کړے دے مونږ دا | او فرض کړے دے مونږ دا | او نازل کړل مونږ | په دے کښې | آیتونه | واضح

دا یو سورت دے کوم چه مونږ نازل کړو او د دے (حکمونه مو په تاسو) فرض کړل او په دے کښې موصفا صفا حکمونه نازل کړل

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿١﴾ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ
دې پاره چه تاسو | نصیحت حاصل کړئ | زناکاره ښځه | او زناکار سړے | پس ووهئ | هر | یو
چه تاسو نصیحت حاصل کړئ ، زناکاره ښځه او زناکار سړے په دواړو کښې هر یو

مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۪ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ
له دوی نه | سل | دورے | او نه دې | راځي ستاسو | په دواړو بانډې | رحم
سل سل دورے وَهئ ، او ستاسو دې په دے دواړو بانډې د الله تعالیٰ په حکم

فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ
د الله په دین کښې | که چرے تاسو | ایمان لرئ | په الله بانډې | او په ورځ | د آخرت
چلولو کښې هیڅ ترس نه راځي ، که چرے تاسو په الله تعالیٰ او د قیامت په ورځ باور لرئ ـ

وَلْیَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآىِٕفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿٢﴾ اَلزَّانِیْ لَا یَنْكِحُ
او پکار دي چه حاضر وي | عذاب د دوی ته | یوه ډله | د مسلمانانو | زناکار سړے | نکاح نه کوي
او پکار دي چه د دے دواړو تنو سزا ته دې د مسلمانانو یو ټولے حاضر (ولاړ) وي ، زناکار سړے زناکارے ښځے یا

اِلَّا زَانِیَةً اَوْ مُشْرِكَةً ۫ وَّالزَّانِیَةُ لَا یَنْكِحُهَاۤ اِلَّا زَانٍ
مگر د زناکارے ښځے | یا مشرکے ښځے سره | او زناکاره ښځه | نکاح نه کوي د سره | مگر زناکار
مشرکے ښځے نه سیوا بل چا سره واده نه کوي او زناکارے ښځے سره هم بغیر د زناکار سړي یا مشرک سړي نه

اَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿٣﴾ وَالَّذِیْنَ یَرْمُوْنَ
یا مشرک سړے | او حرام شوے دے | دا کار | په مؤمنانو | او کوم خلق چه | تهمت لگوي
بل څوک نکاح نه کوي او دا عمل مؤمنانو د پاره حرام مقرر کړے شوے دے او هغه خلق چه په پاک لمنو

الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ یَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ
په پاک لمنو ښځو بانډې | بیا | نه راولي دوی | څلور | گواهان | پس ووهئ دوی
ښځو بانډې تهمتونه ولگوي ، بیا څلور گواهان (په دے بانډې) پیش نه کړے شي ، نو هغوئ اتیا

ثَمٰنِیْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ وَاُولٰٓىِٕكَ
اتیا | دورے | او مه قبلوئ | د دوی | گواهي | چرے (هم) | او هم دا خلق
دُرے ووهئ ، او بیا هیچرے د هغوئ هیڅ گواهي مه قبلوئ ، او هم دغه خلق

هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤﴾ اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ
فاسقان دي | مگر | کوم خلق چه | توبه وکړي | پس | له دے نه
بدکرداره دي ، هو ! څوک چه د دے کار نه پس توبه وُباسي او د خپلو عملونو

وَاَصْلَحُوْا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿٥﴾ وَالَّذِیْنَ یَرْمُوْنَ
او اصلاح ئے وکړه | نو بیشکه | الله | ډیر بخښونکے | رحم کوونکے دے | او کوم خلق چه | تهمت ولگوي
اصلاح وکړي ـ نو بیشکه الله تعالیٰ ډیر بخښونکے مهربان دے ـ او کوم خلق چه په خپلو ښځو بانډې

أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ

په خپلو ښځو | او نه وي | دوی سره | ګواهان | سیوا | د خپل ذات نه | نو ګواهي پکار ده

د زنا عیب ولګوي او د هغوی سره د خپل ځان نه سیوا نور ګواهان نه وي، نو د داسې سړي د

أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَٰدَٰتٍۭ بِٱللَّهِ ۙ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٦

د یو له دوی نه | څلور ځله | ګواهي (قسم) | په الله | چه بیشکه دی | رښتینی دی.

ګواهي صورت دا دی چه هغه په څلور ځله په الله تعالی قسم خوري چه بیشکه هغه په خپله دعوی کې رښتینی دی

وَٱلْخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ۝٧

او په پنځم ځل | دا چه | لعنت دی وی | د الله | په ده | که چېرې وي دی | له دروغ ویونکو نه

او په پنځم ځل په دا دې ووائي چه که چېرې هغه دروغژن وي نو په هغه دې د الله تعالی لعنت وي.

وَيَدْرَؤُا۟ عَنْهَا ٱلْعَذَابَ أَن تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَٰدَٰتٍۭ بِٱللَّهِ ۙ

او لرې کولی شي | له دې (ښځې) نه | عذاب (د احد) | چه ګواهي ورکړي | څلور ځله ګواهي | په الله

او د ښځې نه سزا په دې شان سره لرې کېدلی شي، چه هغه د څلور ځله په الله تعالی باندې قسم وخوري

إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ۝٨ وَٱلْخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ

چه بیشکه دی | له دروغ ویونکو دی | او په پنځم ځل | دا چه | غضب دی وی | د الله

چه دا سړی دروغژن دی او په پنځم ځل دې دا ووائي چه په ما دې د الله تعالی غضب

عَلَيْهَآ إِن كَانَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٩ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ

په دې (ښځه) | که چېرې وي دی | له رښتیا ویونکو نه | او که چېرته نه وی | فضل | د الله | په تاسو

را نازل شي که دا سړی رښتیا وائي. او که د الله تعالی فضل او مهرباني در باندې نه وی او دا خبره

وَرَحْمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ۝١٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلْإِفْكِ

او د ده رحمت | او دا چه الله | توبه قبلوونکی | حکمت والا دی | بیشکه کوم خلق چه | را غلل | په تهمت سره

نه وې چه الله تعالی توبه قبلوونکی د حکمتونو خاوند دی (نو په تاسو به مصیبت نازل شوی وی). کوم خلق چه (په عائشه رضي الله عنها باندې) تهمت ولګولو

عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ

یوه ډله ده | له تاسو نه | مه ګڼئ تاسو دا | بد | ځان د پاره | بلکه دا | غوره ده | تاسو د پاره

هغه هم له تاسو نه یو ټولی دی، تاسو د ځان د پاره دا (قیصه) بده مه ګڼئ بلکه تاسو د پاره خو هم دا غوره ده

لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُم مَّا ٱكْتَسَبَ مِنَ ٱلْإِثْمِ ۚ وَٱلَّذِى

هر یو کس د پاره دی | له دوی نه | هغه څیز | چه ده وکړو | له ګناه نه | او کوم کس چه

په دوی کې هر چا د پاره څومره چه هغه حصه واخسته هغه هومره ګناه ده، او چا چه په کې د

تَوَلَّىٰ كِبْرَهُۥ مِنْهُمْ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝١١ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ

ذمه واره دی | د لوی تهمت | له دوی نه | ده د پاره عذاب دی | ډېر لوی | ولې ونه شو هر کله چه واورېده تاسو دا

ټولو نه زیاته حصه واخسته د هغه سزا هم (د نورو نه زیاته) لویه ده. هر کله چه تاسو دا (د تهمت) خبره

ع

ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا

چه گمان کړے وے | مؤمنانو سړو | او مؤمنانو ښځو | په خپلو خلقو | دَ نیکئ | او ویلے وے دوی

داولې یې نه نو ولے داسے ونه شوه چه مسلمانانو سړو او ښځو دَ خپلو خپلوانو په حقله نیک گمان کړے وے او داسے ئے

هٰذَآ اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٢﴾ لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ

چه دا خو | بهتان دے | ښکاره | ولے رانه وستل دوی | په دے (خبره) | څلور | گواهان

وئیلی وے چه دا خو ښکاره بهتان دے. دوی په خپله خبره باندې ولے څلور گواهان پیدا نه کړل ؟ نو هرکله

فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿١٣﴾

پس هرکله چه رانه وستل دوی | گواهان | پس دغه کسان | په نزد دَ الله | دروغژن دی

چه دوی گواهان رانه وستے شول ، نو بس دَ الله تعالیٰ په نزد (خو) هم دوی دروغژن شول .

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ

او که چرے نه وے | فضل | دَ الله | په تاسو | او دَ ده رحمت | په دُنیا کښے | او آخرت (کښے)

او که په تاسو باندې دَ الله تعالیٰ فضل او مهربانی په دنیا او آخرت دواړو کښے نه وے ، نو تاسو

لَمَسَّكُمْ فِىْ مَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٤﴾ ۚ اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ

نو رسیدلے به وو تاسو | په وجه دَ هغه | چه مشغول شوی تاسو | په هغے کښے | عذاب | ډیر لوئے | هرکله چه تاسو راوستله دا (خبره)

چه په کومه مشغله کښے پریوتی وئ نو په دے کښے به درباندې لوئے آفت رانازل شوے وو ، کوم وخت چه تاسو

بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ

په خپلو ژبو | او تاسو وئیله | په خپلو خُلو سره | هغه خبره چه نشته | تاسو ته | دَ هغے | (رښتیا) علم

دا خبره خُلے تر خُلے نقل کوله او په خُله مو هغه خبره کوله چه تاسو ترے نه خپله خبر نه وئ او

وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ﴿١٥﴾ وَلَوْلَآ

او تاسو گڼرله دا | معمولی خبره | او هغه وه | په نزد دَ الله | ډیره لویه . | او ولے ونه شوه

او دا مو معمولی خبره گڼرله حال دا چه دَ الله تعالیٰ په نزد ډیره غټه (خرابه) خبره ده . او څه وخت

اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ

هرکله چه | واورېدلو تاسو دغه تهمت | چه وئیلے تاسو | نه دی مناسب | مونږ له | چه په ژبه راوړو مونږ | دا خبره

چه تاسو اورېدلے وه نو دا سے مو ولے نه وئیل چه مونږ له دا سے خبره دَ خُلے نه ایستل نه ښائیږی

سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ﴿١٦﴾ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ

ته پاک یې | دا خو | بهتان دے | ډیر لوئے | نصیحت کوی تاسو ته | الله | دَ دے خبرے چه

سبحان الله! دا خو ډیر لوئے بهتان (دروغ) دی . (داور ئې) الله تعالیٰ تاسو ته نصیحت کوی، که چرے

تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧﴾ ۚ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ

تاسو دوباره (هم) کوئ | داسے کار | هیڅ کله | که چرے یئ تاسو | مؤمنان | او بیانوی | الله

تاسو مؤمنان یئ نو بیا هیڅ چرے داسے کار ونه کړئ . او الله تعالیٰ تاسو دَ پاره حکمونه

لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ

تاسو دپاره | آیتونه | او الله | پوهه | دحکمت خاوند دے | بیشکه | کوم خلق چه | غواړي

(صفا صفا) بیانوي او الله تعالیٰ په هر څه پوهه دحکمت خاوند دے. بیشکه کوم خلق چه دا غواړي

اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ

چه خوره شي | بے حیائي | په هغو خلقو کښے چه | مؤمنان دي | هغوی دپاره | عذاب دے | دردناک

چه په مؤمنانو کښے دِ بے حیائي خوره شي، هغوی دَ پاره په دنیا او آخرت کښے

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾

په دنیا کښے | او په آخرت (کښے) | او الله | پوهیږي | او تاسو | نه پوهیږئ.

دردناک عذاب مقرر دے. او الله تعالیٰ ته هرے خبرے علم دے او تاسو نه پوهیږئ

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ

او که چرته نه وے | فضل | د الله | په تاسو | او د هٔ رحمت | او دا چه | الله | ډیر مهربان

او که چرے تاسو باندِ د الله تعالیٰ فضل او د هٔ رحمت نه وے (نو تاسو به سخت ترینه سزا درکړے شوے وه) او دا چه الله تعالیٰ

رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ

رحم کوونکے دے | اے د ایمان خاوندانو! | مه روانیږئ | په قدمونو | د شیطان

ډیر نرمي کوونکے مهربان دے. اے مؤمنانو! تاسو د شیطان په قدمونو پسے مه ځئ

وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَاۗءِ

او څوک چه | پیروي کوي | د قدمونو | د شیطان | نو بیشکه هغه | حکم کوي | د بے حیائي

او څوک چه په شیطان پسے روان ـــ شي نو هغه خو همیشه د بے شرمئ او د بد وکارونو لاړے

وَالْمُنْكَرِ ۭ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى

او د بد کار | او که چرته نه وے | فضل | د الله | په تاسو | او د هٔ رحمت | نو پاک شوے به نه وو

چارے ښائي، او که په تاسو باندِ د الله تعالیٰ فضل او مهرباني نه وے نو په تاسو کښے به هیڅوک

مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ

له تاسو نه | هیڅ کس | هیڅ کله | لیکن | الله | پاکوي | څوک چه غواړي

هیڅرے پاک شوے نه وو ، خو الله تعالیٰ چه د چا په حقله وغواړي نو هغه پاک او صفا کړي

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ

او الله | آوریدونکے | پوهه دے | او قسم دِ نه خوري | د فضیلت خاوند | له تاسو نه

او الله تعالیٰ هر څه آوري په هر څه پوهه دے. او په تاسو کښے څوک چه د بزرګئ او د فراخه روزئ خاوندان

وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ

او فراخئ خاوند | چه (نه) ورکوي | خپلوانو ته | او مسکینانو ته | او هجرت کوونکو ته

دي ـــ نو هغوئ دِ خپلوانو ، مسکینانو او د الله تعالیٰ په لار کښے هجرت کوونکو ته د څه نه ورکولو

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ

په لاره کښې | دَ الله | او پکار ده چه عفوه وکړی | او درګزر وکړی | آیا تاسو نهٔ خوښوئ | چه معاف کړی

قسمونه نهٔ خوړی او پکاردی چه معاف ورته کړی او دَ درګزر نه کار اخلی، آیا دا مو خوښه نهٔ ده چه الله تعالیٰ

اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٢﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ

الله | تاسو | او الله | ډیر بخښونکے | مهربان دے | بیشکه | کوم خلق چه | تهمت لګوی

درته بخښنه وکړی ، او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے مهربان دے. هغه خلق چه په پاکو، بے خبره

الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۠

په پاکدامنو | بے خبره | او مؤمنانو ښځو باندې | لعنت شوے په دوی | په دنیا کښې | او په آخرت (کښې)

او ایماندارو ښځو باندې تهمتونه لګوی ، نو په هغوئی باندې په دنیا او په آخرت دواړو کښې لعنتونه وریږی

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٣﴾ يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ

او دوی دَپاره | عذاب دے | ډیر لوئے | په هغه ورځ چه | ګواهی به ورکوی | په دوی باندې | ژبے دَ دوی

او هغوئی له دردناک عذاب مقرر دے. په هغه ورځ چه خپلے ژبے او خپل لاسونه او خپلے ښپے

وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾ يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ

او لاسونه دَ دوی | او ښپے دَ دوی | دَ هغه څهٔ | چه کول به دوی | په دغه ورځ | پوره به ورکړی دوی ته

به پرے په خپله ګواهی کوی چه دوئی څهٔ کارونه کول. په دغه ورځ به الله تعالیٰ دوئی ته

اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿٢٥﴾

الله | بدله دَ دوی | په انصاف | او دوی به پوهه شی | چه بیشکه الله | هم دے برحق دے | (حق) واضح کونکے

دَ دے پوره پوره سزا ورکړی او دوی ته به معلومه شی چه الله تعالیٰ واقعی رښتینے او دَ هر څهٔ ښکاره کونکے دے

اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ

ناپاکے ښځے | دَ ناپاکو سړو دَپاره دی | او ناپاک سړی | دَ ناپاکو ښځو دَپاره دی | او پاکے ښځے | پاکو سړو دَپاره دی

ناپاکه ښځه دَ ناپاکو سړو لائقه دی، او ناپاکه سړی دَ ناپاکو ښځو لائق دی ، او پاکے ښځے دَ پاکو سړو

وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ؕ لَهُمْ

او پاک سړی | پاکو ښځو دَپاره دی | دا خلق | بری دی | له هغه څهٔ نه | چه دوی وائی | دوی دَپاره

او پاک سړی دَ پاکو ښځو لائق دی ، دا خلق دَ دے (شریرو دَ) خبرو نه بالکل پاک دی (او) دوی دَ

مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿٢٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا ع

بخښنه ده | او رزق | دَ عزت | اے دَ ایمان خاوندانو! | دننه مهٔ ورځئ | کورونو ته

پاره بخښنه او دَ عزت روزی ده. اے دَ ایمان خاوندانو! دَ خپلو کورونو نه بغیر دَ نورو چا کورونو

غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ؕ ذٰلِكُمْ

سیوا | له کورونو خپلو نه | ترڅو چه | تاسو اجازت واخلئ | او سلام واچوئ | دَ هغے په استوګنو | دا (خبره)

ته ترهغے مهٔ ورننوځئ ترڅو چه اجازت وانخلئ او دَ هغے په استوګنو خلقو سلام وانهٔ چوئ. دا کار تاسو

خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فِيْهَآ اَحَدًا

هیڅوک | په هغې کښې | پس که چرې بیا نه مومئ تاسو | نصیحت حاصل کړئ | د پاره د دې چه تاسو | تاسو د پاره | غوره ده

د پاره ډیر غوره دے چه تاسو ئے خیال وساتئ . نو که په هغه کورونو کښې درته څوک ښکاره نه شي نو تر هغې مه

فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ لَكُمُ ارْجِعُوْا

چه واپس شئ | او که چرې د ويلے شي تاسو ته | تاسو ته | اجازت درکړے شي | تر څو چه | پس د ننه مه ورځئ د هغې نه

ورننوزئ ترڅو چه اجازت درته ونه شي ، او که دا درته وويلے شي چه واپس لاړ شئ

فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿٢٨﴾

نو واپس شئ | دا (خبره) | زيات پاکيزه ده | تاسو د پاره | او الله | په هغه څه | چه کوئ ئے تاسو | پوهه دے.

نو واپس شئ ، هم دا خبره ستاسو په حقله غوره ده او الله تعالیٰ ستاسو په کارونو ښه پوهه دے -

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ

څوک | چه نه وسيږي | کورونو ته | چه د ننه ورشئ تاسو | (څه) ګناه | په تاسو | نشته په

په دے خبره کښې په تاسو څه ګناه نشته چه په کومو کورونو کښې څوک نه وسيږي (او) ستاسو مال او سامان په هغې کښې

فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٢٩﴾

په هغې کښې | (بلکه په هغې کښې) سامان وي | ستاسو | او الله | پوهيږي | څه چه تاسو ښکاره کوئ | او څه چه | تاسو پټوئ

د ننه وي نو هغې ته ورننوزئ ، او الله تعالیٰ ستاسو په ښرګندو او په پټو کارونو بانډې ښه پوهيږي

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ۭ

ووايه | مؤمنانو سړو ته | چه ټيټې ساتي | سترګے خپلے | او حفاظت د کوي | د خپلو شرمګاهونو

(اے پيغمبره!) مؤمنانو ته ووايه چه خپلے سترګے د ټيټې ساتي او د خپلو سترونو حفاظت د کوي

ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَقُلْ

دا | ډير پاکيزه ده | دوی د پاره | بيشکه الله | خبردار دے | په هغه څه | چه دوی ئے کوي | او ووايه

دا خبره د دوی د پاره ډيره بهتره ده ، الله تعالیٰ د خلقو په ټولو کارونو ښه خبر دے . او مؤمنانو ښځو

لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ

مؤمنانو ښځو ته | چه کوزے ساتي | خپلے سترګے | او حفاظت د کوي | د خپلو شرمګاهونو

ته ووايه چه خپلے سترګے د کوزے ساتي ، او د خپلو سترونو حفاظت د کوي

وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ

او نه د ښکاره کوي | خپل ښائست | مګر | کوم چه ظاهر وي | له هغې نه | او هغوی د دا واچوي

او خپل ډول سنګار د نه ښرګند وي ، البته کوم چه نه شي پټيدلے ، او خپلے لوپټې د په سينو

بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۠ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ

خپلے لوپټې | په خپلو ګريوانونو | او نه د ښکاره کوي | خپل ښائست | مګر خاوندانو خپلو ته

بانډې غوړيدلے لري ، او خپل ډول سنګار د نه ښرګند وي خو خپلو خاوندانو ته

اَوْ اٰبَآىِٕهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآىِٕهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ

یا خپلو پلارانو ته | یا | دَ خپلو خاوندانو پلارانو ته | یا خپلو ځامنو ته | یا دَ خپلو خاوندانو ځامنو ته | یا

یا خپلو پلارانو ته یا سخرانو ته یا خپلو ځامنو ته یا دَ خاوندانو ځامنو ته یا

اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِیْٓ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِیْٓ اَخَوٰتِهِنَّ اَوْ نِسَآىِٕهِنَّ اَوْ مَا

یا خپلو ورونړو ته | یا خپلو وریرونو ته | یا خپلو خوریونو ته | یا خپلو ښځوته | یا په هغه (وینځو)

خپلو ورونړو ته یا خپلو وریرونو ته یا خپلو خوریونو ته یا (دَ خپل مذهب) ښځوته یا

مَلَكَتْ اَیْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِیْنَ غَیْرِ اُولِی الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ

دَ کومو چه مالکان دی | دَ دوی ښی لاسونه | یا هغه خادمان چه | چه حاجت نه لری (دَ ښځو) | له سړو نه

خپلو وینځو ته ، یا له سړو نه هغه خادمانو ته چه نفساني خواهشات نهٔ لري

اَوِ الطِّفْلِ الَّذِیْنَ لَمْ یَظْهَرُوْا عَلٰی عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۪ وَلَا یَضْرِبْنَ

یا هغه ماشومان | کوم چه | خبر نهٔ دی | په شرمګاهونو | دَ ښځو | او نهٔ دِ وهی دوی (زمکه)

یا هغه ماشومانو ته چه لا دَ ښځو دَ پردو دَ خبرو نه واقف نهٔ وی او (دَ تلو په وخت کښې) ښځې

بِاَرْجُلِهِنَّ لِیُعْلَمَ مَا یُخْفِیْنَ مِنْ زِیْنَتِهِنَّ ؕ وَتُوْبُوْٓا

په خپلو ښپو | چه معلوم شی | هغه څهٔ چه | پټوی ئې دوی | له خپل ښائست نه | او تاسو توبه وکړئ

دِ خپلې ښپې په زور نهٔ وهی چه په دے سره دَ دوی دَ پټو ګاڼو آواز واورېدے شی ۰ او تاسو ټول الله تعالیٰ

اِلَی اللّٰهِ جَمِیْعًا اَیُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۱﴾

دَ الله په وړاندې | ټول | اے | مؤمنانو ! | دَ پاره دَ دې چه تاسو | کامیاب شئ .

ته توبه وُباسئ اے مؤمنانو ! چه تاسو نجات بیاموئ . او په

وَاَنْكِحُوا الْاَیَامٰی مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِیْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآىِٕكُمْ ؕ

او نکاح وکړئ | دَ کونډو (ښځو او سړو) | له خپل قوم نه | او دَ نیکانو | غلامانو | او دَ وینځو

تاسو کښې چه کوم ښځې کونډے دی دَ هغوئ نکاح کوئ او دَ خپلو نیکانو غلامانو هم او دَ وینځو هم (نکاح کوئ)

اِنْ یَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ یُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ

که چرے وی دوی | محتاجه | نو غنیان به کړی دوی | الله | په خپل فضل سره | او الله

که دوئ غریبان وی نو الله تعالیٰ به ئې په خپل فضل سره غنیان کړی . او الله تعالیٰ دَ ډیرے

وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ﴿۳۲﴾ وَلْیَسْتَعْفِفِ الَّذِیْنَ لَا یَجِدُوْنَ نِكَاحًا

ډیر ورکوونکے | پوهه دے | او پاکدامنه دِ وُسیږی | هغه خلق چه | نه بیاموی (سامان) | دَ نکاح

فراختیا خاوند دے په هر څهٔ پوهه دے او کوم خلق چه دَ نکاح طاقت نهٔ لری پکار دی چه هغوئ ځان

حَتّٰی یُغْنِیَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالَّذِیْنَ یَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ

تر دے چه | غنیان کړی دوی | الله | په خپل فضل سره | او هغه خلق چه | غواړی | معاهده کول

پاکدامنه ساتی تر دے چه الله تعالیٰ په خپل فضل سره هغوئ غنیان کړی او کوم غلامان چه تاسو سره مکاتبت (معاهده)

مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ

له هغه چا نه | چه مالکان شوي دي لاسونه ستاسو | پس مکاتب کړئ هغوئ | که چرې تاسو معلومه کړئ | په هغوئ کښې | ښه نيکي

کول او (آزادي حاصلول) غواړي که چرې تاسو ته په هغوئ کښې نيکي او صلاحيت معلوم وي نو هغوئ سره مکاتبت وکړئ

وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ؕ وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ

او تاسو ورکړئ دوي ته | د الله د مال نه | کوم چه ئې درکړے دے تاسو ته | او مه مجبوره کوئ | خپلې وينځې

او کوم مال چه الله تعالیٰ تاسو له درکړے دے له هغې نه دوئ ته هم ئې ورکړئ، او خپلې وينځې د دنيا د ژوند

عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ

په بد کارئ باندې | که چرې | غواړي دوي | پاکدامنئ (وسيله) | د پاره د دې چه حاصل کړئ | سامان | د دنيا د ژوند

د فائدو حاصلولو د پاره په زنا کارئ مه مجبوره کوئ هر کله چه هغوئ پاک لمنے او سيدل غواړي

وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ غَفُوْرٌ

او څوک چه | مجبوره کوي دوي | نو بيشکه | الله | پس د دوي د مجبوره کولو نه | بخښونکے

او څوک چه هغوئ (په زنا کولو) مجبوره کړي، نو الله تعالیٰ د هغوئ د مجبورتيا نه پس بخښونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا

مهربان دے | او بيشکه | نازل کړل مونږ | ستا طرف ته | آيتونه | روښانه | او مثالونه

مهربان دے، او مونږ ستا طرف ته واضح حکمونه نازل کړي دي او د هغو خلقو مثالونه

مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٤﴾ اَللّٰهُ ع ١٠

د هغو خلقو چه | تيرشوي دي | له تاسو نه وړاندې | او نصيحت | د پرهيزګارانو د پاره | الله

(بيان کړي دي) چه ستاسو نه وړاندې تيرشوي دي او د ويريدونکو د پاره (د) نصيحت (ذريعه) ده، الله تعالیٰ

نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ

نور | د آسمانونو | او د زمکې دے | مثال | د ده د نور | په شان د تاخ دے | چه په هغې کښې | ډيوه ده

د آسمانونو او د زمکې نور دے، د ده د نور مثال داسې دے لکه چه يو تاخ دے چه په هغې کښې ډيوه پرته

اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ

هغه ډيوه | په يوه شيشه کښې ده | هغه شيشه | داسې ده لکه چه | داستوری دے | ځليدونکے | بلولے شي هغه

ده او هغه ډيوه په يوه شيشه کښې ده (او هغه) شيشه لکه يو ځلانده ستورے دے، دغه ډيوه د يوې

مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ

له يوې ونې نه | چه برکتي ده | د زيتون | چه نه نمر خاته ده | او نه نمر پريواته ته | نزدې دے چه

فائده مندې برکتي اونې نه بليږي (يعني) د زيتون نه چه نه د نمر خاته غاړے ته ولاړه ده او نه د لمر لويدو غاړے ته

زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِي

تيل د هغې | رڼا ورکړي | اګر که نه وي رسيدلې هغې ته | اور | رڼا ده د پاسه د رڼا | لاره ښائي

د ګردونه بنکاري لکه چه په خپله به اوس بله شي اګر که اور ورته نزدې هم نه شي هغه تو له رڼا رڼا ده، الله تعالیٰ چه د چا

اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ۗ

الله | خپل نور ته | چا ته چه ئې وغواړي | او بيانوي | الله | مثالونه | خلقو دپاره

په حقله وغواړي نو دَ خپل نور هدايت ورته وکړي او الله تعالیٰ خلقو دَ پاره مثالونه بيانوي

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٣٥﴾ فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ

او الله | هر څيز باندې | پوهه دے | په هغه کورونو کښې | چه حکم کړے دے | الله | چه اوچت دِ کړے شي | او ياد دِ شي

او الله تعالیٰ په هر څيز ښهٔ پوهه دے ، په دا کورونو (يعنې جماتونو) کښې چه الله تعالیٰ دَ هغې (کورونو) په حقله

فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿٣٦﴾

په هغې کښې | نامه دَ دهٔ | پاکي بيانوي | دَ دهٔ | په هغې کښې | سحر | ماښام

دا حکم ورکړے دے چه دَ هغې ادب لحاظ دِ ساتلے شي او دَ هغهٔ نوم دِ په کښې اخستلے شي په هغې کښې سحر ماښام خلق دَ الله پاکي

رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ

(دا ئې) سړي | چه نهٔ غافله کوي دوي | سوداګري | او نهٔ اخستل خرڅول | دَ الله دَ ذکر نه | او دَ قائمولو

بيانوي ، دا هغه خلق کوم چه دَ الله تعالیٰ دَ ذکر نه نهٔ تجارت غافله کولے شي نهٔ اخستل خرڅول او نهٔ دَ مونځ قائمولو او

الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ

دَ مونځ نه | او ادا کولو | دَ زکوٰة نه | دوي ويريږي | له هغه ورځې نه | چه اوښته به شي

زکوٰة ادا کولو نه (دغه څيز دوي منع کولے شي) ، هغوي دَ هغه ورځې نه ويريږي چه زړونه

فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ﴿٣٧﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ

په هغې کښې | زړونه | او سترګې | دَ پاره دَ دے چه جزا ورکړي دوي ته | الله | غوره

او سترګې به په کښې (په بل مخ) واوړي ، انجام به ئې دا وي چه الله تعالیٰ به ورله دَ خپلو نيکو عملونو

مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۗ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ

دَ هغو عملونو | چه دوي کول | او چه زيات ورکړي دوي ته | دَ خپل فضل نه | او الله | رزق ورکوي

ډيره ښهٔ بدله ورکړي او دَ خپل فضل نه به زيات هم ورکړي ، او الله تعالیٰ چه دَ چا په حقله

مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۢ

چا ته چه غواړي | بے حسابه | او کوم چه کافران دي | عملونه دَ دوي | په شان دَ سراب دي

غواړي نو بے حسابه رزق ورکوي ، او څوک چه کافران دي دَ هغوي عملونه دَ سراب په شان دي

بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ۗ حَتّٰىٓ اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ

په بيابان کښې | چه خيال کوي په هغې | تږے | دَ اوبو | تر دے چه | هر کله راشي هغې ته | نو بيا نهٔ مومي (هلته)

چه په يو هوار ميدان کښې پروت وي تږے دَ اوبو ګمان کوي خو هر کله چه ورته نژدے ورشي نو هيڅ بيا نهٔ

شَيْـًٔا وَّوَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ۗ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ

هيڅ | او بيا مومي الله | هلته | نو هغه پوره ورکړي دهٔ ته | حساب دَ دهٔ | او الله | ډير زر

مومي او هلته (دَ) الله (تقدير) بيا مومي نو هغه ورسره خپل حساب پوره کړي (او ئې ختم کړي) او الله تعالیٰ ډير

الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ

حساب کوونکے دے | یا په شان د تیارو | په یو ژور دریاب کښې | چه راپټوی دے | چپه | د پاسه

زر حساب خلاصوی یا (د هغه عملونه) داسے دی لکه د توغے ژور سمندر د لاندې تورے تیارے چه لوئے لوئے چپے پرے

مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ۭ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ۭ

د بلے چپے | د پاسه د هغے | وریځ وی | تیارے دی | ځنے د هغے | د پاسه ځنے نورو

بانې راځی، د یوے چپے د پاسه بله چپه وی او بیا د هغے چپو د پاسه وریځ وی، غرض دا چه لاندې باندې تیارے را توے

اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ۭ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا

هر کله چه راوباسی دے | خپل لاس | نو لیدلے نه شی هغه | او هر هغه کس چه | نه دے جوړ کړے | الله | دهٔ له | (څه) نور

شوی وی که څوک خپل لاس راوباسی نو د لاسے (تیاره) وی لکه چه هغه هم لیدلے نه شی او چا له چه الله (د هدایت) رڼا

فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴۰﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

پس نشته دے دهٔ د پاره | (څه) نور | آیا نه دی کتلی تا | چه د الله | پاکی بیانوی | څوک چه په آسمانونو کښې

ورنه کړی نو هغهٔ له بیا هیڅ رڼا نشته، آیا تا ته معلومه نه ده چه ټول (مخلوقات) د الله تسبیح وائی څوک چه په آسمانونو

وَالْاَرْضِ وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ۭ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ

او زمکه (کښې دی) | او مارغان | وزرے خوروونکی | هر یو | پیژندلے ده | خپله دعا

کښې او زمکه کښې دی او الوتونکی مارغان هم چه وزرے ئے غوړولے وی، هر یو ته خپله خپله دعا او خپله خپله تسبیح

وَتَسْبِيْحَهٗ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ

او خپله تسبیح | او الله | پوهه دے | په هغه څه | چه دوی ئے کوی | او هم الله د پاره ده | بادشاهی

معلومه ده، او الله تعالیٰ ته د دوی ټول عملونه معلوم دی. او د آسمانونو او د زمکے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۴۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِيْ

د آسمانونو | او د زمکے | او د الله طرف ته | واپس تلل دی | آیا نه دی کتلی تا | چه الله | روانوی

بادشاهت هم د الله تعالیٰ د پاره دے هم د الله تعالیٰ طرف ته واپس تګ دے آیا تا نه دی لیدلی چه هم الله تعالیٰ

سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ

وریځ | بیا | یو ځائے کوی | دا په خپل مینځ کښې | بیا کړی دا | قط په قط | بیا ته وینې (چه) | باران

وریځے روانوی، بیا ئے په خپل مینځ کښې یو ځائے کوی، بیا ئے لاندې باندې کوی، نو ته ئے وینې چه د هغے د

يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا

راوځی | د دے د مینځ نه | او هغه راوروی | له آسمان نه | د غرونو (په شان وریځو) نه | چه په دے کښې دی

مینځ نه باران راوځی او د وریځو د لویو لویو حصو نه ږلئ راوروی

مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ۭ

ږلئ | پس هغه وروی | دا | په چا چه | غواړی | او بیرته ئے ګرځوی | له هغه چا نه | چه غواړی

نو په چا چه غواړی په هغه ئے راوروی او چه د چا نه ئے خوښه شی د هغوی نه ئے بیرته ساتی

ع ۵

يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿۴۳﴾ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ

نژدې ده چه | پرق | دَ دې دَ برېښنا | بوځي | سترګې (نظرونه) | بدلوي | الله | شپه

دَ هغه دَ بجلۍ پرق داسې ښکاري لکه چه اوس به دَ سترګو نظر بوځي ، هم الله تعالٰی شپه او ورځ اړوي

وَالنَّهَارَ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۴۴﴾ وَاللّٰهُ

او ورځ | بيشکه | په دې کښې | عبرت دې | دَ سترګو دَ خاوندانو دَ پاره | او الله

راړوي - بيشکه په دې کښې دَ سترګو دَ خاوندانو دَ پاره لوئې عبرت دې او الله تعالٰی هر يو

خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ

پيدا کړو | هر تلونکې ساه دار | له اوبو نه | پس ځنې له دوی نه دی | چه روان دی | په خېټه خپله

ګرځنده خيز دَ اوبو نه پيدا کړې دې ، نو ځنې په کښې داسې دی چه په ګېډه باندې خوځيږي

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ

او ځنې له دوی نه | چه روان دی | په دوه ښپو | او ځنې له دوی نه | هغه دی چه روان ګي

او ځنې داسې دی چه په دوه ښپو ګرځي او ځنې له دوی نه داسې دی چه په څلورو ښپو

عَلٰى اَرْبَعٍ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۵﴾

په څلورو (ښپو) | پيدا کوي الله | څه چه غواړي | بيشکه الله | په هر څيز باندې | قدرت لري

تګ کوي ، الله تعالٰی چه څه غواړي هغه پيدا کوي ، بيشکه الله تعالٰی په هر څيز باندې قدرت لري

لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ

بيشکه | نازل کړل موږ | آيتونه | روښانه | او الله | هدايت کوي | چاته چه | غواړي

يقيناً موږ واضحه حکمونه نازل کړل ، او الله تعالٰی چه دَ چا په حقله غواړي نو په سمه

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۶﴾ وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ

طرف دَ لارې سمې ته | او دوی وائي | موږ ايمان راوړو | په الله | او په رسول باندې

لاره ئې روان کړي. او دا خلق وائي چه موږ الله تعالٰی او دَ دهٔ په رسول باندې ايمان راوړې

وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَمَآ

او موږ حکم ومنلو | بيا مخ واړوي | يوه ډله | له دوی نه | پس | له دې نه | او نه دی

دې او دَ هغوی حکمونه مو ومنل خو دَ دې نه پس هم دَ دوی يو ټولې مخ اړوي او دا خلق

اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَاِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ

دا خلق | مؤمنان | او هر کله چه | دوی راوبللې شي | طرف دَ الله او دَ رسول دَ دهٔ ته | چه فيصله وکړي

(هيڅ کله) ايمان راوړونکی نهٔ دی - او هر کله چه دوی الله تعالٰی او دَ دهٔ دَ رسول طرف ته راوبللې شي

بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ

دَ دوی په مينځ کښې | نو ناګهانه يوه ډله | له دوی نه | مخ اړوي | او که چيرې وي | دَ دوی | حق

چه دَ دوی ترمينځ فيصله وکړي نو په دوی کښې يوه ډله فوراً مخ واړوي - او که چيرې دَ دوی په چا څهٔ حق

يَأْتُوٓا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ ﴿٤٩﴾ اَفِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوٓا

نو راځي دوی | څوه طرف ته | فرمان منونكي | آيا دَ دوی په زړونو كښې | مرض دے | يا دوی په شک كښې پراته دي

جو ډيرې ی نو بيا (رسول ته) فرمان منونکی راروان وی، آیا دَ دوی په زړونو کښې مرض دے یا په شک کښې پراته دي

اَمْ يَخَافُوْنَ اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ۚ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ

يا دوی ويريږي | چه ظلم به وکړي | الله | په دوی باندې | او رسول دَده | بلکه هم دوی دي

يا دا انديښنه ورسره ده چه الله او رسول به پرے (ظلم) زياتے وکړي؟ داسے نه ده بلکه دوی

الظّٰلِمُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

ظالمان | بيشكه | ده | وينا | دَ مؤمنانو | هركله چه دوی بللے شي | الله او دَده دَ رسول طرف ته

په خپله ظالمان دي، هركله چه مؤمنان الله تعالىٰ او دَ ده دَ رسول طرف ته راوبللے شي چه دَ دوی

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

چه هغه فيصله وكړي | دَ دوی په مينځ كښې | نو دوی وائي | مونږ واورېدل | او مونږ فرمانبرداري وكړه | او هم دوی دي

ترمينځه فيصله وكړي نو دَ دوی خبره فقط دا وی چه مونږ واورېدل او حكم مو ومنلو او هم دا خلق

الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٥١﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ

كامياب | او څوک چه | حكم مني دَ الله | او دَ ده دَ رسول | او ويريږي | دَ الله نه | او تقوىٰ اختيار كړي

كامياب دي۔ او څوک چه دَ الله تعالىٰ او دَ هغهٔ دَ رسول خبره مني او دَ الله تعالىٰ نه ويره كوي او دَ هغهٔ (دَ

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ

پس هم دا خلق | كاميابېدونكي دي | او دوی قسمونه خوري | په الله | پاخهٔ | قسمونه خپل

نافرمانۍ) نه ځان بچ ساتي نو هم داسے خلق به كامياب وي او دا خلق په الله تعالىٰ سخت قسمونه خوري كه ته دوی ته

لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۚ قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ۚ طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ۚ

كه چرته ته وكړے دوی ته | نو خامخا به بهر ته لاړشي دوی | دوايه | قسمونه مه خورئ | (ستاسو) فرمانبرداري | ظاهره ده

حكم وكړے نو دوی به ضرور (جهاد دَ پاره دَ كورونو نه) ووځي دوی ته ووايه، قسمونه مه خورئ (ستاسو) فرمانبرداري

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٣﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا

بيشكه الله | ښهٔ واقف دے | له هغهٔ څهٔ نه | چه تاسو يې كوئ | دوايه | حكم منئ دَ الله | او حكم منئ

معلومه ده، الله تعالىٰ ستاسو دَ ټولو كارونو نه ښهٔ خبردے (اے پيغمبره!) ورته ووايه چه تاسو دَ الله اطاعت كوئ

الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ

دَ رسول | پس كه چرے تاسو مخ وګرځوئ | پس بيشكه په پيغمبر دي | هغه څه چه | په ده لازم كړے شو | او په تاسو دي

او دَ رسول حكم منئ نو كه تاسو بيا هم ترے نه مخ ګرځوئ نو (پوهه شئ چه) دَ رسول په غاړه خپله ذمه واري ده

مَّا حُمِّلْتُمْ ۚ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ۚ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ

هغه څه چه | په تاسو لازم كړے شو | او كه چرے تاسو دَ هغهٔ حكم منئ | نو هدايت به بيا مومئ | او نهٔ دي | دَ رسول په ذمه

او ستاسو په غاړه خپله ده او كه تاسو دَ هغهٔ خبره ومنله نو سمه لار به بيا مومئ او دَ رسول په ذمه خو نور څهٔ

إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ

مګر | پیغام رسول | ښکاره | وعده کړې ده | الله | هغو خلقو سره | چه ایمان ئې راوړې دے | له تاسو نه

نشته خو صفا صفا (حکمونه) رسول دی ، په تاسو کښې چاچه ایمان راوړې دے او د نیکۍ کارونه کوی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ

او عملونه ئې وکړل | ښه | چه ضرور به دوی ته خلافت ورکړی | په زمکه کښې | لکه څنګه چه | ده خلافت ورکړے و

نو الله تعالیٰ ورسره وعده کړې ده چه د زمکې حکومت به ورله ورکړی لکه چه د دوی نه مخکې خلقو

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۪ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِى ارْتَضٰى لَهُمْ

هغو خلقو ته | چه وړاندې له دوی نه وو | او مضبوط به کړی | دوی دپاره | د دوی دین | هغه دین | چه ده خوښ کړے دے | د دوی دپاره

له ئې ورکړے وو ، او هغه دین به ورله مضبوط کړی کوم چه ئې دوی له خوښ کړے دے

وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ؕ يَعْبُدُوْنَنِىْ لَا يُشْرِكُوْنَ

او بدل له به ورکړی دوی ته | پس له ویرې د دوی نه | امن | دوی به عبادت کوی زما | شریک به نه مقرر وی

او د ویرې په بدل به ئې امن نصیب کړی ۔ (په شرط د دې) چه زما عبادت کوی هیڅوک راسره

بِىْ شَيْـًٔا ؕ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۵۵﴾

ماسره | هیڅ څیز | او څوک چه ناشکری وکړی | پس له دې نه | پس دغه خلق | دوی دی نافرمان ۔

نه شریکوی ، او څوک چه د دې نه پس هم کفر غوره کړی نو هم دغه خلق نافرمانه دی ۔

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

او قائم ساتئ | مونځ | او ورکوئ زکوٰة | او حکم منئ د رسول | چه په تاسو | رحم وکړے شی

او (اے مسلمانانو!) د مونځونو پابندی ساتئ او زکوٰة ورکوئ او د رسول حکم منئ چه مهربانی درباندې وکړے شی ۔

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ

خیال مه کوه | په هغو چه | کافران دی | د عاجز کوونکو | په زمکه کښې | او ځائے د دوی | اور دے

دا خیال مه کوئ چه کافران به (مونږه) په زمکه کښې عاجزه کړی او د دوی ټیکاڼه دوزخ دے

وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۵۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ

او ډیر بد ځائے | د ورتلو دے | اے ایمان والو ! | اجازت دې اخلی له تاسو نه | هغه خلق

او هغه ډیر خراب ځائے دے ۔ اے مسلمانانو ! ستاسو (خادمانو) مریانو له او هغه ماشومانو له چه د

مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ؕ

چه د هغوی مالک شوی دی لاسونه ستاسو | او هغه (هلکان) چه | نه دی رسیدلی | حد د احتلام ته | له تاسو نه | درې ځله

عقل حد ته رسیدلی نه دی پکار دی چه په درے وختو کښې درته (د راتلو) اجازت غواړی (یو)

مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ

وړاندې | د مونځ د صبا نه | او څه وخت چه | تاسو کوزوئ | جامې خپلې | د غرمې

د سحر د مونځ نه وړاندې او (بل) څه وخت چه تاسو د غرمې خپلې جامې وباسئ او (بل)

ع ۷ ۱۳

وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ۗ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ؕ لَيْسَ عَلَيْكُمْ

او پس | له ماښځه د ماسختن نه | دا درې | وختونه د خلوت دي | د پاره ستاسو | نشته دی | په تاسو

د ماسختن د مونځ نه وروستو . (دا) درې وختونه ستاسو د پردې (وختونه) دي ، د دې دريو وختونو

وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ؕ طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ

او نه په دوی | څه ګناه | د دې (وختونو) نه پس | چه راتلونکي دي دوی | په تاسو | ځينې له تاسو نه

نه سيوا (د دوی د اجازت نه بغير تګ راتګ کښې) نه په تاسو څه ګناه شته نه په دوی چه (کار د پاره تاسو) يو بل له

عَلٰى بَعْضٍ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

په ځينو | دغه شان | بيانوي | الله | تاسو د پاره | آيتونه | او الله | پوهه

راځي ، دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل حکمونه څرګندن آوروي ، او الله تعالیٰ ډير ښه پوهه

حَكِيْمٌ ﴿٥٨﴾ وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَاْذِنُوْا

د حکمت خاوند دی | او هر کله چه ورسيږي | هلکان | له تاسو نه | حد د احتلام ته | پس اجازت دې غواړي دوی

د حکمت خاوند دی . او هر کله چه ستاسو هلکان بالغان شي ، نو پکار دي چه هغوی هم

كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ

لکه څنګه چه | اجازت غوښتلو | هغو خلقو چه | وړاندې له دوی نه وو | دغه شان | بيانوي | الله

اجازت غواړي ، لکه چه وړاندې يو (ذکر شوي) خلقو ته د اجازت غوښتلو حکم شوی دی . دغه شان الله تعالیٰ تاسو د پاره خپل

لَكُمْ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٥٩﴾ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ

د پاره ستاسو | آيتونه خپل | او الله | پوهه | د حکمت خاوند دی | او ډيرې زيانې بوډۍ | له ښځو نه

حکمونه په وضاحت سره بيانوي او الله تعالیٰ په هر څه پوهه د حکمت خاوند دی . او زړې بوډۍ ګانې چه د نکاح

الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ

هغه چه | اميد نه لري | د نکاح | پس نشته دی | په دوی | څه ګناه | چه کيږدي دوی

اميد يې پاتې نه وي ، د هغوی هيڅ ګناه نشته که خپلې زياتې جامې (لکه پړونې او

ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ ؕ وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ

خپلې (زياتې) جامې | چه نه دي ښکاره کوونکې | د ښائست خپل | او که احتياط وکړي دوی | نو ډيره ښه ده

لوپټه) کوزکړي خو داسې نه چه خپل ډولونه او سينګار ښائي ، او که (د دې نه هم) احتياط وکړي نو دا ورله

لَّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٦٠﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ

دوی د پاره | او الله | آوريدونکې | پوهه دې | نشته دې | په ړوند | څه ګناه

غوره ده او الله تعالیٰ هر څه آوري په هر څه پوهه دی . نه په چا ړوند سړي څه الزام شته ، او

وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ وَّلَا

او نه | په ګوډ | څه ګناه | او نه | په بيمار | څه ګناه | او نه

نه په چا ګوډ سړي څه ملامته شته ، او نه په چا ناروغه څه وبال شته ، او نه

عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَنْ تَاْكُلُوْا مِنْ بُيُوْتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآئِكُمْ

پہ ذات ستاسو | چہ خورئ تاسو | لہ خپلو کورونو نہ | یا لہ کورونو | دَ پلارانو خپلو نہ

بخپلہ پہ تاسو څہ ګناہ نشتہ کہ تاسو دَ خپلو کورونو نہ خوراک خورئ یا دَ پلارانو دَ کورونو نہ

اَوْ بُيُوْتِ اُمَّهٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ

یا لہ کورونو | دَ میندو خپلو نہ | یا لہ کورونو | دَ ورونړو خپلو نہ | یا لہ کورونو | دَ خویندو خپلو نہ

یا دَ میندو دَ کورونو نہ ، یا دَ ورونړو دَ کورونو نہ ، یا دَ خویندو دَ کورونو نہ

اَوْ بُيُوْتِ اَعْمَامِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ عَمّٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخْوَالِكُمْ

یا لہ کورونو | دَ ترونو خپلو نہ | یا لہ کورونو | دَ پلارانو دَ خویندو خپلو نہ | یا لہ کورونو | دَ ماما ګانو خپلو نہ

یا دَ ترونو دَ کورونو نہ ، یا دَ ماسی ګانو دَ کورونو نہ ، یا دَ ماما ګانو دَ کورونو نہ

اَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ اَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ اَوْ صَدِيْقِكُمْ ؕ

یا لہ کورونو | دَ مورو دَ خویندو خپلو نہ | یا لہ هغو کورونو نہ | چہ ستاسو پہ قبضہ کښے دی | کُنجیانے دَ هغے | یا لہ کورونو دَ دوستانو خپلو نہ

یا دَ ترورګانو دَ کورونو نہ یا (دَ هغہ کورونو نہ) چہ دَ هغے ګنجئ ستاسو پہ اختیار کښے وی یا دَ خپلو دوستانو دَ کورونو نہ

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا ؕ فَاِذَا دَخَلْتُمْ

نشتہ دے پہ تاسو | څہ ګناہ | چہ تاسو وخورئ | ټول یو ځلے | یا جُدا جُدا | پس هرکلہ چہ | تاسو ننوځئ

پہ دے کښے هیڅ ګناہ نشتہ کہ پہ یو ځائے شریک خوراک کوئ او کہ جدا جدا اوکړئ څو چہ کلہ دغے کورونو تہ

بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً

کورونو تہ | نو سلام کوئ | خپلو خلقو تہ | دُعا دَ خیر | لہ طرفہ دَ اللہ نہ | دَ برکت

ورننوځئ نو (اول) خپلو خلقو تہ سلام کوئ ، چہ دَ دُعا پہ شان دَ اللہ تعالیٰ دَ طرف نہ مقرر دہ ، برکتی

طَيِّبَةً ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦١﴾

پاکیزہ | دغہ شان | بیانوی | اللہ | دَ پارہ ستاسو | آیتونہ | دَ پارہ دَ دے چہ تاسو | پوهہ شئ

(او) پاکیزہ - دغہ شان اللہ تعالیٰ تاسو تہ خپل حکمونہ ښکارہ کوی چہ تاسو پرے پوهہ شئ .

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاِذَا كَانُوْا

بیشکہ | مؤمنان | هغہ خلق دی چہ | ایمانئے راوړو | پہ اللہ | او پہ رسول دَ دۀ | او هرکلہ چہ وی دوی

مؤمنان خو بس هم هغہ خلق دی چہ اللہ تعالیٰ او دَ دۀ پہ رسول باندے ایمان راوړی او هرکلہ چہ دَ رسول

مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ

دَ دۀ سرہ | پہ یو داسے کار | چہ اجتماعی وی | نو دوی نۀ ځی | ترڅو چہ | اجازت وغواړی دوی لہ پیغمبرہ

ملګرتیا تہ پہ یو داسے کار پسے راټول شوی وی چہ دَ هغے دَ پارہ ټولنہ شوی وی نو ترڅو چہ اجازت وانخلی تر هغے نۀ

اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

بیشکہ کوم خلق چہ | اجازت غواړی لہ تانہ | هم دا هغہ خلق دی | کوم چہ | ایمان راوړی | پہ اللہ

پستنہ کیږی (اے پیغمبرہ!) څوک چہ لہ تا نہ اجازت اخلی ځی نو هم دا هغہ خلق دی چہ اللہ تعالیٰ او دَ دۀ پہ رسول

وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ فَاْذَنْ لِّمَنْ

او د ده په رسول | پس هر کله چه | د ګا اجازت وغواړي له تا نه | د پاره د خپل کار خپل | نو اجازت ورکړه | هغه چا ته چه

ایمان لري، پس هر کله چه دوی د خپل ځینو کارو د پاره له تا نه اجازت غواړي نو په دوی کښې چه ته چا ته

شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٢﴾

غواړې ته | له دوی نه | او معافي غواړه | دوی د پاره | د الله (نه) | بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے

غواړې اجازت ورکړه او د دوی د پاره د الله تعالیٰ نه بخښنه غواړه بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے

لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ؕ

تاسو مه جوړوئ | بلنه | د پیغمبر | په خپل مینځ کښې | په شان د بلنې | ستاسو یو بل ته

(مومنانو) تاسو د رسول بلنه داسې (معمولي) مه ګڼړئ لکه چه تاسو په خپل مینځ کښې یو بل رابلئ

قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ

یقیناً پیژني | الله | هغه خلق چه | رو غوښي او ځي | له تاسو نه | غلے شان | پس پکار ده چه ووېرېږي

یقیناً الله تعالیٰ هغه خلق ډېر ښه پیژني چه یو ابخ ته شي نو (غل غونتي) وګشيږي، نو خوک چه د الله تعالیٰ د

الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ

هغه خلق چه | مخالفت کوي | د ده د حکم | چه ورسېږي دوی ته | مصیبت | یا ورسېږي دوی ته

حکم نه مخالفت کوي هغوی له دا وېره پکار ده چه (دنیا کښې) پرځنې آفت رانازل نه شي یا دردناک عذاب ئے

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

عذاب | دردناک | خبردار | بیشکه | هم د الله دی | هغه څه | چه په آسمانونو کښې

(په آخرت کښې) رانه نیسي، یاد ساتئ چه په آسمانونو او په زمکه کښې هرڅه چه دي هغه ټول د الله تعالیٰ

وَالْاَرْضِ ؕ قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ؕ وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ

او زمکه (کښې دي) | بیشکه الله پیژني | په کوم (حال) کښې چه تاسو یئ | او په کومه ورځ چه به | دوی واپس کړے شي

دي هغه ته ستاسو د اموجوده حالت هم ښه معلوم دے او په کومه ورځ چه خلق هغه ته واپس

اِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٤﴾

د ه طرف ته | بیا دے به وښائي دوی ته | هغه څه | چه کړي دي دوی | او الله | په هر څیز | پوهه دے

کړے شي نو هغه به ورته ټول کارونه په ګوته کړي او الله تعالیٰ په هرڅه پوهه دے۔

ع ۹ / ۱۵

سُوْرَةُ الْفُرْقَانِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورۃ فرقان په مکه کښې نازل شوې ده | (شروع) د الله په نوم سره چه لوئے مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | کښې ۷۷ آیتونه او ۶ رکوع ګانې دي

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان د ډېر زیات رحم خاوند دے

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ

ډېر بابرکت دے | هغه ذات چه | نازل ئے کړو | په حق او باطل کښې فرق کوونکے (قرآن) | په خپل بنده باندې | چه هغه دے | د عالمونو د پاره

هغه الله ډېر بابرکته دے چا چه خپل بنده (محمد ﷺ) باندې قرآن نازل کړو چه د ټولو جهانونو د پاره (د

نَذِيرًا ﴿١﴾ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ

وېروونکی | هغه ذات | چه د هغه دی | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکې | او نه ئې دی نیولے

عذابه) وېروونکې وي. یوازې هغه ذات دے چه په آسمانونو او په زمکه د هغه بادشاهي ده او هغه هېڅوک

وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ

څوک اولاد | او نشته دے | د ده | (څوک) شریک | په بادشاهئ کښې | او هغه پیدا کړو | هر یو څیز

خوئے جوړ کړے نه دے، نه ورسره په حکومت کښې څوک شریک شته، او هغه هر څیز پیدا کړے دے.

فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ﴿٢﴾ وَاتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً لَا يَخْلُقُونَ

پس اندازه ئې کړو | په اندازه کولو سره | او دوی ونیول | د ده نه سیوا | معبودان | چه نه پیدا کوی

بیائے د هر یو د پاره جدا جدا اندازه ایښې ده او د (مشرکانو) د خدائے نه علاوه نور داسې خدایان نیولی دی چه هېڅ څیز

شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا

څه څیز | او دوی | پیدا کیږے شی | او دوی اختیار نه لری | د خپل ځان د پاره | د څه زیان | او نه د څه فائدے

پیدا کولے نه شي بلکه دوی خپله پیدا کړے شوی دی او دوی خپل ځان د پاره د زیان او فائدے څه اختیار نه لری

وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيٰوةً وَلَا نُشُورًا ﴿٣﴾ وَقَالَ الَّذِينَ

او نه دوی اختیار لری | د مرګ | او نه د ژوند | او نه بیا د راپورته کیدو | او وائی | هغه خلق چه

او نه د چا د مرګ واک لری او نه د چا د ژوند او نه د چا د مړو دوباره ژوندی کولو. او کافران وائی

كَفَرُوا إِنْ هٰذَا إِلَّا إِفْكٌ افْتَرٰىهُ وَأَعَانَهُ عَلَيْهِ

کافران دی | چه نه دے دا (قرآن) | مګر دروغ | چه تړلے دے له ځان نه | او مدد کړے دے ده له | په دے

چه دا (قرآن) خو بس تش دروغ دی چه دے سړی د ځان نه راجوړ کړی دی او نورو خلقو ورسره د دے په

قَوْمٌ آخَرُونَ ۚ فَقَدْ جَاءُوا ظُلْمًا وَزُورًا ﴿٤﴾ وَقَالُوا أَسَاطِيرُ معانقه ۱۰

نورو خلقو | بیشکه عمل وکړو دوی | د ظلم | او د دروغو | او دوی وائی | چه دا قیصئ دی

جوړولو کښې امداد کړے دے (په دے دنیا کښې) دے خلقو ډیر زیاتے وکړو او غټ دروغ ئې وویل او دوی وائی چه دا

الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٥﴾ قُلْ

د پخوانو خلقو | چه ده لیکلی دی | پس هغه | ویلے کیږے شی په ده | سحر | او ماښام | ووایه

د پخوانو خلقو قیصئ دی چه دے سړی په چا لیکلی دی نو هم دغه نو شپه ورته صبا بیګا آوروله شی ته ورته

أَنْزَلَهُ الَّذِي يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ كَانَ

نازل کړے دے دا | هغه ذات | چه پیژنی | راز | د آسمانونو | او د زمکې | بیشکه دے | دے

ووایه چه دا (قرآن) هغه ذات نازل کړے دے چه هغه ته د آسمانونو او د زمکې هر یو راز معلوم دے بیشکه هغه

غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٦﴾ وَقَالُوا مَالِ هٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ

بخښونکے | مهربان | او دوی وویل | څه شول په دے پیغمبر باندې | چه خوری | طعام

بخښونکے مهربان دے. او دوی وائی چه دا لا څنګه پیغمبر دے چه خوراک ونه خوری

وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ؕ لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ مَعَهٗ

او گرځي | په بازارونو کښې | ولې راونه لیږلے شوه | ده ته | فرښته | چه هغه وي | د ده سره

او په بازارونو کښې گرځي ؟ ده ته څوک فرښته ولې راونه لیږلے شوه چه هغه ورسره د ویرولو

نَذِيْرًا ۙ﴿٧﴾ اَوْ يُلْقٰۤى اِلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ تَكُوْنُ لَهٗ جَنَّةٌ يَّاْكُلُ مِنْهَا ؕ

ویرونکے | یا غورزولے شوے وے | ده طرفته | خزانه | یا وے | د ده | باغ | چه ده خوړلے | له هغے نه

یاره مل وے یا ورته د غیبو خزانه ورکړے شوے وے یا ورسره باغ وے چه د هغے نه ئے خوړلے (څښلے)

وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿٨﴾ اُنْظُرْ

او وویل | ظالمانو | چه پیروی نه کوئ تاسو | مگر د داسے سړی | چه جادو پرے شوے وي | وگوره

او دا ظالمان وائي چه تاسو خلق خو په یو داسے سړی پسے روان یئ چه جادو پرے شوے دے . اے نبی !

كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴿٩﴾ ع

څنگه | بیانوی دوی | تاسو د پاره | مثالونه | پس دوی گمراه شول | پس دوی نه بیا مومي | لاره

د خو گوره چه دوی ستا په حقله څنگه عجیب عجیب خبرے کوی ، پس دوی گمراه شول نو څنگه دوی سمه لاره موندلے نه

تَبٰرَكَ الَّذِيْۤ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ

برکت والا دے | هغه ذات | چه که چرې وغواړي | نو جوړ به کړی | تا د پاره | ډیر ښه | له دے نه | باغونه

شی ، هغه ذات ډیر برکت لری چه که وغواړی نو تا له به د دے نه هم بهتر څیز درکړی (یعنی) باغونه چه

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ﴿١٠﴾ بَلْ كَذَّبُوْا

چه بهیږی به | لاندے د هغے نه | نهرونه | او جوړ به کړی | تا د پاره | محلونه | بلکه دوی دروغ وگڼلو

د هغه (د اونو) لاندې به نهرونه بهیږی او تا له به محلونه جوړ کړی - خبره دا ده چه دا خلق

بِالسَّاعَةِ ۟ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ﴿١١﴾ اِذَا رَاَتْهُمْ

قیامت | او تیار کړے دے مونږ | هغه چا د پاره چه دروغ گڼړی | قیامت | دوزخ | هرکله چه هغه ووینی دوی

د قیامت نه منکر دی او څوک چه د قیامت نه منکر دی نو مونږ هغوی له دوزخ تیار کړے دے - څه وخت چه هغه

مِّنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ﴿١٢﴾ وَاِذَآ اُلْقُوْا مِنْهَا

د لرے ځائے نه | نو آورې به دوی | د هغه | آواز د قهر | او د غړیدو | او هرکله چه د غورزولے شي دوی | له هغې نه

(دوزخ) دا خلق د لرے نه ووینی نو دوی به د هغه زوړیدا وشوږ واوری . او هر کله چه دوی د دوزخ په

مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ﴿١٣﴾ لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ

په مکان | تنگ کښې | لاس ښپې تړلے شوی | دعا به کوی | هلته | د مرگ | مه غواړئ | نن ورځ

یو تنگ ځائے کښې په زنځیرونو کښې تړلی وغورزولے شی ، نو هلته به د مرگ دعا گانے وغواړی (ورته به وویلے شی چه)

ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا ﴿١٤﴾ قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ

مرگ | یو | او غواړئ | مرگونه | ډیر | ووایه | آیا دا | بهتر دے | یا جنت | د همیشه

نن یو مرگ مه غواړئ بلکه ډیر ډیر مرگونه وغواړئ - تپوس ترے وکړه چه دا (دوزخ) غوره دے یا د همیشه جنت

الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَّمَصِيْرًا ﴿١٥﴾ لَهُمْ فِيْهَا

هغه چه | وعده ورکړے شوې ده د متقیانو سره | دی به | دوی ته بدله | جزا | او ځائے د بیرته ورتللو | دوی لپاره دی | په هغې کښې

د کوم چه د نیکو خلقو سره وعده شوې ده، هغه د دوی د پاره بدله او د واپس ورتللو ځائے دے، هلته چه دوی څه

مَا يَشَآءُوْنَ خٰلِدِيْنَ ؕ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْئُوْلًا ﴿١٦﴾ وَيَوْمَ

هغه څه چه دوی ئې غواړی | همیشه | دے | په رب ستا | وعده | چه سوال ئې شوې دے | او په کومه ورځ چه

غواړی هغه به ورته تیار پراته وی، همیشه به په کښې وسیږی دا یوه وعده ده ستا د رب په ذمه د غوښتلو قابل او په کومه ورځ

يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَقُوْلُ ءَاَنْتُمْ

هغه جمع کړی دوی | او هغه څه چه دوی ئې عبادت کولو | سیوا | د الله نه | نو بیا هغه به وکړی | آیا تاسو

چه (الله) دوی راجمع کړی او ورسره هغه معبودان هم چه دوی به ئې د الله تعالیٰ نه بغیر عبادت کولو نو بیا به ورته ووائی چه آیا تاسو

اَضْلَلْتُمْ عِبَادِيْ هٰٓؤُلَآءِ اَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ

گمراه کړی وو | زما دا بندګان | یا دوی | په خپله غلطه کړے وه | لاره | دوی به ووائی | پاک یې ته

زما دا بندګان ګمراه کړی وو؟ یا دوی په خپله د لارے نه بے لارے شوی وو؟ هغوی به ووائی چه ته پاک یې

مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ

نه دی | مناسب موږ د پاره | چه موږ ونیسو | بے له تا نه | څوک دوست | او لیکن | فائده ورکړه تا دوی ته

موږ د پاره دا خبره مناسب نه وه چه تا نه بغیر موږ بل څوک کارجوړونکے ونیسو لیکن (حقیقت دا دے چه) هم تا هغوی

وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا قَوْمًا ۢ بُوْرًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ

او د دوی پلارانو ته | تر دے چه | هیر کړو دوی | (ستا) یاد | او وو | دا خلق | هلاکیدونکی | پس بیشکه

او د هغوی پلارانو له خوشحالی ورکړے وه تر دے چه (ستا) یاد دوی ئے هیر کړل او تباه برباد شول نو (د مشرکانو فرضی معبودان)

كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ

هغوی دروغژن وګڼلئ تاسو | په هغه څه کښې چه تاسو وایئ | پس نه تاسو طاقت لرئ | د دفع کولو | او نه د مدد کولو | او څوک چه

ستاسو خبرے په خپله دروغژنې کړے نو اوس نه خو تاسو په خپله دا (عذاب) بندولے شئ او نه د چا نه مدد حاصلولې شئ او په

يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيْرًا ﴿١٩﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ

ظلم کوی | له تاسو نه | د به څکوو موږ هغه ته | عذاب | ډیر لوئے | او نه دی | لیږلی موږ | وړاندے له تا نه

تاسو کښې هر څوک چه (په ځان) ظلم کوی نو موږ به په ډیر د غټ عذاب مزه وڅکوو او موږ چه ستا نه وړاندے هر څومره

مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ اِنَّهُمْ لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِي الْاَسْوَاقِ ؕ

پیغمبران | مګر یقیناً هغوی | خوړلو | طعام | او ګرځیدل به | په بازارونو کښې

پیغمبران لیږلی دی نو ټولو به خوراک هم خوړل، او په بازارونو کښې به هم ګرځیدل او

وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ؕ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ﴿٢٠﴾

او جوړ کړی ګا موږ | ځینے له تاسو | ځینو د پاره | آزمینبت | آیا تاسو به صبر وکړئ | او دے ستا رب | لیدونکے.

موږ تاسو د یو بل د پاره (د) آزمینبت (ذریعه) ګرځولی یئ نو اوس هم صبر کوئ (که نه)؟ او ستا رب ډیر ښه وینی ګوری

القرآن الکریم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانہ ترجمہ

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ

او وویل | هغو خلقو | چه اُمید نه لری | دَ ملاقات زمونږ | چه ولے نازلے نه شوے په مونږ | فرښتے

او کوم خلق چه مونږ سره دَ ملاقات اُمید نه لری. هغوئ وویل چه مونږ باندې فرښتے ولے نازلے نه کړے شوے

اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ۭ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿٢١﴾

یا مونږ وو وینو | خپل رب | بیشکه دوی تکبر وکړو | په خپل زړونو کښے | او سرکشی وکړه دوی | سرکشی لویه

یا مونږ خپل رب بیا ولیدے؛ دوی خپل ځان ډیر لوئے گنړلے دے او له حده نه ډیر لرے وتلی دی.

يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ

په کومه ورځ چه | دوی وینی دوی | فرښتے | (نو) هیڅ خوشحالی به نه وی | په دغه ورځ | گناهگارانو دَ پاره | او وائی به دوی

په کومه ورځ چه دوی فرښتے ووینی نو دغه ورځ به دَ مجرمانو دَ پاره دَ خوشحالئ ورځ نه وی. او دوی به وائی

حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٢٢﴾ وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ

پناه غواړو | په پناه غوښتو سره | او مونږ به متوجه شو | طرف دَ هغه څه ته | چه کړی دی دوی | له څه عمل نه

چه پناه غواړو پناه. او مونږ به دَ دوئ دَ عملونو طرف ته توجه وکړو

فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿٢٣﴾ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ

نو کړو به مونږ هغه | ذرے | خورے شوے | اهل جنت به | په دغه ورځ (وی) | په ښه

نو هغه به ورله ذرے (تالا ترغه) کړو لکه الوتونکے گرد. دَ جنت خاوندان به په دغه ورځ په ښو ځایونو او ښائسته

مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿٢٤﴾ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ

هستوگنه کښے | او په ډیر ښه | آرام گاه کښے | او په کومه ورځ چه | وُچوی | آسمان | په وریځو سره | او راکوزے به کړے شی

خواب گاهونو کښے په آرام ناست وی. او په کومه ورځ چه دَ پوے وریځے نه آسمان وُچوی او ډیرے ډیرے

الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ﴿٢٥﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ۭ وَكَانَ يَوْمًا

فرښتے | په راکوزیدو سره | بادشاهی به | په دغه ورځ | رښتینے | دَ (الله) رحمٰن وی | او وی به | دغه ورځ

فرښتے (په قطارونو) راکوزے کړے شی. په دغه ورځ به رښتینے حکومت دَ رحمٰن (خدائے) وی او دغه به په

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا ﴿٢٦﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ

په کافرانو باندې | ډیره سخته | او په کومه ورځ چه | چیچی به نکوی | ظالم | په خپلو دواړو لاسونو | وائی به

کافرانو ډیره سخته ورځ وی او په دغه ورځ به ظالم خپلے (گوتے) لاسونه چیچی، دا به وائی

يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا ﴿٢٧﴾ يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ

اے کاش! | چه نیولے وے ما | سره | دَ پیغمبر | لار | هلاے زما بدنصیبه! | افسوس چه

چه اے کاش! زهٔ دَ پیغمبر سره په (سمه) لار تگیدلے وے، هلاے زما بده نصیبه! افسوس چه فلانے

لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا ﴿٢٨﴾ لَقَدْ اَضَلَّنِيْ عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ

ما نهٔ وے نیولے | فلانے | دوست | بیشکه هغهٔ بے لارے کړم زهٔ | له نصیحت نه | پس له هغے نه چه

بندهٔ م آشنا کړے نهٔ وے. دغه آشنا خو زهٔ دَ هغے نه پس گمراه کړم چه نصیحت راته کوو

جَآءَنِیْ ؕ وَكَانَ الشَّیْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الرَّسُوْلُ

راغلے وو ما ته | او دے | شیطان | د انسان | رسوا کوونکے | او ووئیل | پیغمبر

راغلے وو، او شیطان (د همیشه نه) د انسان رسوا کوونکے دے . او رسول (صلی الله علیه وسلم) به وائی

یٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِی اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴿۳۰﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا

چه ای زما ربه! | بیشکه زما قوم | نیولے وو | دا | قرآن | پریښودلے شوے | او دغه شان | جوړ کړل مونږ

چه ای زما ربه! زما قوم دا قرآن پریښودے وو ، او دغه شان مونږ د هر

لِكُلِّ نَبِیٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِیْنَ ؕ وَكَفٰی بِرَبِّكَ هَادِیًا وَّنَصِیْرًا ﴿۳۱﴾

هر نبی د پاره | دښمنان | له ګناهګارانو نه | او کافی دے | ستا رب | لار ښودونکے | او مدد ورکوونکے

نبی د پاره له ګناهګارانو نه دښمنان جوړ کړی دی او ستا رب لار ښودونکے او مدد د پاره کافی دے

وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَیْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚۛ

او وائی | هغه خلق | چه کافران دی | ولے نازل نه کړے شو | په پیغمبر | قرآن | په یو ځل

او دا کافران وائی چه په دے سری باندے (ټول) قرآن په یو ځل ولے راکوز نه شو ؟

كَذٰلِكَ ۛۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِیْلًا ﴿۳۲﴾

دغه شان | د پاره د دے چه مضبوط کړو مونږ | په دے سره | زړه ستا | او لوستلو مونږ دا | په قلاره قلاره

دا څکه (لږ لږ راغے) چه د دے په ذریعه مونږ ستا زړه مضبوط کړو او مونږ (څکه) دا کتاب په ورو ورو (ستا وړاندے)

وَلَا یَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِیْرًا ﴿۳۳﴾ؕ

او نه راوړی دوی تا ته | څه مثال | مګر راوړو مونږ تا ته | جواب حق | او ډیر ښه | وضاحت

لوستلے دے او دا خلق چه تا ته هر څنګه عجیبه سوال را وړاندې کړی نو مونږ د هغے سم جواب او ښه واضح (جواب) تا ته

اَلَّذِیْنَ یُحْشَرُوْنَ عَلٰی وُجُوْهِهِمْ اِلٰی جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ

کوم خلق چه | به جمع کړے شی | پړمخو تونکی په مخونو خپلو | په طرف د دوزخ | هم دا خلق دی | ډیر بد

ښایو ، دا هغه خلق دی چه پړمخے به دوزخ ته بوتلے شی . د دوی ځائے ډیر خراب

مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِیْلًا ﴿۳۴﴾ؒ وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْكِتٰبَ وَجَعَلْنَا

په مقام کښے | او ډیر بے لارے دی | د لارے نه | او بیشکه | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | کتاب | او جوړ کړو مونږ

او د لارے نه ډیر زیات بے لارے روان دی ، او مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړو ، او د ده سره مو

مَعَهٗۤ اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِیْرًا ﴿۳۵﴾ۚۖ فَقُلْنَا اذْهَبَاۤ اِلَی الْقَوْمِ الَّذِیْنَ

د ده سره | د ده ورور | هارون | مل دګار | پس مونږ ووئیل | لاړ شئ تاسو | هغه قوم ته | کوم چه

د ده ورور هارون مل دګار مقرر کړے وو ، نو مونږ ورته ووئیل چه تاسو دواړه هغه خلقو ته ورشئ

كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا ؕ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِیْرًا ﴿۳۶﴾ؕ وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا

دروغژن کړل | ژمونږ آیتونه | نو مونږ هلاک کړل دوی | په هلاکولو سره | او قوم د نوح (هم) | هر کله چه | دروغ وګڼل دوی

چه زمونږ خبرے یے دروغژنے کړی دی ، بیا مونږ دا (کفار) هلاک کړل . او مونږ د نوح قوم هم تباه کړو څه وخت چه

الرُّسُلَ اَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ وَاَعْتَدْنَا

پیغمبران | (نو) موږ غرق کړل دوی | او موږ وګرځول دوی | خلقو د پاره | یوه نښه | او تیار کړے دے موږ

هغوی پیغمبران دروغژن وګڼل نو موږ ډوب کړل او د خلقو د پاره مو (د عبرت) نښه کړل، او موږ ظالمانو له

لِلظّٰلِمِیْنَ عَذَابًا اَلِیْمًا ﴿۳۷﴾ۚۖ وَّعَادًا وَّثَمُوْدَا۟ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًۢا

ظالمانو د پاره | عذاب | درد ناک | او (قوم د) عاد | او ثمود | او اهل د رس | او نورو قومونو ته (هم)

درد ناک عذاب تیار کړے دے . او دغه شان مو عاد او ثمود او اصحاب رس او د دوی ترمینځ نورو ډیرو

بَیْنَ ذٰلِكَ كَثِیْرًا ﴿۳۸﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ ؗ وَكُلًّا تَبَّرْنَا

په مینځ د دوی کښې | ډیر | او د هر یو د پاره | موږ بیان کړل | مثالونه | او هر یو | موږ هلاک کړل

قومونه (تباه کړل) . او موږ هر یو ته عجیبه عجیبه مثالونه بیان کړل او (بیا) هر یو مو (د انکار په

تَتْبِیْرًا ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْیَةِ الَّتِیْۤ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ؕ

په هلاکولو سره | او بیشکه تیر شوی ګاډی دوی | په هغه کلی (هم) | په کوم چه | ورولے شوے وو | باران | ډیر خراب

وجه) بالکل برباد کړل او دا خلق د هغه کلی په زمکه تګ راتګ کوی چه (د کاڼو) باران پرے ډیر بد بدبن راورولے شوے وو

اَفَلَمْ یَكُوْنُوْا یَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوْا لَا یَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿۴۰﴾

پس آیا نه وو دوی | چه لیدلے وے دوی هغه | بلکه | اُمید نه لرلو دوی | د راپورته کیدلو

نو آیا دا خلق دغه کلی ته نه ګوری؟ (نا) بلکه دا خلق د دوباره ژوندی کیدو اُمید نه لری .

وَاِذَا رَاَوْكَ اِنْ یَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِیْ بَعَثَ اللّٰهُ

او هر کله چه | دوی وویني تا | نو دوی نه ګوری تا سره (څه نور) | سیوا د مذاق نه | چه آیا دا دے | کوم چه | راولیږلو الله

او هر کله چه دا خلق تا ګوری نو تا پورے ملنډے کوی . چه آیا دا هغه سړے دے چه الله تعالیٰ پیغمبر

رَسُوْلًا ﴿۴۱﴾ اِنْ كَادَ لَیُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَاۤ اَنْ صَبَرْنَا عَلَیْهَا ؕ

پیغمبر؟ | نزدے وه چه | ګمراه کړی دے موږ | ز موږ د معبودانو نه | که چرے موږ ټینګ نه وے | په هغې

کړے رالیږلے دے . دے سړی خو به موږ د خپلو معبودانو نه اړولی وو که موږ پرے کلک ولاړ پاتې نه وے

وَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ حِیْنَ یَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ سَبِیْلًا ﴿۴۲﴾

او ډیر زر به | دوی پوهه شی | څه وخت چه | دوی ووینی | عذاب | چه څوک دے | زیات بے لارے | د لارے نه

او هر کله چه دوی عذاب ووینی نو دوی ته به معلومه شی چه څوک د لارے نه بے لارے وو ؟

اَرَءَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَیْهِ وَكِیْلًا ﴿۴۳﴾ۙ

آیا تا لیدلے دے | هغه کس چه | نیولے دے | خپل معبود | خپل خواهش | پس آیا ته | کیږے | په هغه باندې | نګهبان؟

آیا تا هغه سړے لیدلے دے کوم چه خپل خواهش له خپل خدائے جوړ کړے دے نو آیا ته د هغه ذمه اخستے شے ؟

اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ یَسْمَعُوْنَ اَوْ یَعْقِلُوْنَ ؕ اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ

آیا | ته ګمان کوے | چه اکثر له دوی نه | آوري | یا د عقل نه کار اخلی | نه دی دوی | مګر په شان د څارو

آیا ستا دا خیال دے چه په دوی کښے اکثر کسان (سمع خبره) آوري یا پوهیږی ؟ دوی خو د څارو په شان دی

بَلْ هُمْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٤٤﴾ اَلَمْ تَرَ اِلٰى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ

بلکه | دوی | زیات بې لارې دي | د لارې نه | آیا تا نه دي کتلي | خپل رب طرف ته | چې څنګه | ده غزولې ده

بلکه دا څاروو نه زیات بې لارې دي۔ آیا تا د خپل رب (کاروونو) ته نه دي کتلي چې هغه څنګه سوري راغزولی

الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿٤٥﴾

سوری | او که چېرې ده غوښتلي | نو جوړ کړی به یې وو دا | ولاړ | بیا مونږ جوړ کړو | نمر | په دې باندې | دلالت کوونکی

کړی دی؟ که هغه غوښتلي نو دې سوري به یې په ځای ولاړ پرېښی وو، بیا مونږ نمر په دغه سوري باندې یو نخښه مقرر کړه

ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا

بیا راټول کړو مونږ دا | خپل ځان ته | په رو رو راټولو سره | او هم هغه دی | چا چې | جوړه کړه | تاسو لپاره | شپه | لباس

بیا دا سوری مونږ رو رو خپل طرف ته راټولوو۔ او الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو له یې شپه د پردې

وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ

او خوب | آرام | او جوړه کړه ده | ورځ | وخت د پورته کېدو | او هم هغه دی | چا چې | رالېږلې

ځای او خوب د آرام ذریعه او ورځ یې د ګرځېدو راګرځېدو د پاره جوړه کړه۔ او الله تعالی هغه ذات دی چې هواګانې

الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۚ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ

هواګانې | زېرې ورکوونکې | وړاندې | د خپل رحمت (باران) نه | او راښکته کړې مونږ | له آسمان نه

د خپل رحمت (یعنی باران) نه وړاندې د زېري په طور لېږي۔ او مونږ د آسمان نه پاکیزه اوبه

مَآءً طَهُوْرًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحْیِۦَ بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا وَّنُسْقِيَهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ

اوبه | پاکې | د پاره د دې چې ژوندي کړو | په دې سره | ښار | مړ | او مونږ وڅښوو دا | هغه څه ته چې پیدا کړل مونږ

راورو، چې د دې په ذریعه یو مړ شوی ښار بیا راژوندی کړو او د خپل پیدا کړي مخلوق نه ډېر څاروي

اَنْعَامًا وَّاَنَاسِيَّ كَثِيْرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوْا ۖ

څاروي | او انسانان | ډېر | او بېشکه | په رنګ رنګ بیان کړو مونږ دا | د دوی په مینځ کې | چې دوی غور وکړي

او بنیادم پرې خړوب کړو، او مونږ دا (اوبه) په دوی کې په مختلفو طریقو سره تقسیموو چې دوی غور وکړي

فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ

پس ونه منلو | اکثرو خلقو | سیوا | د ناشکرۍ نه | او که چېرې غوښتلي مونږ | نو مونږ به لېږلي وو | په هر کلي کې

خو بیا هم اکثر خلق د ناشکرۍ کولو نه بغیر نه پاتې کېږي، او که مونږ غوښتلي نو په هر یو کلي کې به مو یو یو

نَّذِيْرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا ﴿٥٢﴾

وېرونکی | پس ته خبره مه منه | د کافرانو | او جهاد وکړه د دوی سره | په دې سره | جهاد | لوی

وېرونکی لېږلي وو، نو ته د کافرانو خبره هیڅ چېرې مه منه او د قرآن په ذریعه هغوی سره ښه کلک مقابله

وَهُوَ الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ

او هم هغه دی | چا چې | یو ځای کړل | دوه دریابونه | دا (یو) | خوږ دی | تنده ماتوونکی | او دا | مالګین | تریخ دی

کوه او الله هغه ذات دی چې دوه دریابونه یې یو ځای وچلول چې یو خوږ د تندې ورتی او بل مالګین تریخ دی

وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ

اوجوړ کړی دی | د دواړو په مینځ کښې | یوه پرده | او بند | مضبوط | او هم دے ذات | چا چه | پیدا کړو

او د دواړو تر مینځه ئے یوه پرده او یو مضبوط بند پیدا کړے دے. او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه د اوبو

مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا ؕ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ﴿٥٤﴾

له اوبو نه | انسان | بیا ئے جوړ کړو دے | خاندان | او سخرګنئ والا | او دے | رب ستا | لوئے قدرت والا

(د څاڅکی) نه ئے انسان پیدا کړو بیا ئے هغه د ځلے کورنئ او د سخرګنئ خاوند کړو او ستا رب (په هر څیز) قادر دے

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ؕ وَكَانَ

او دوی عبادت کوی | سیوا د الله نه | د هغه څه | چه نه نفع ورکوی دوی ته | او نه نقصان ورکوی دوی ته | او دے

او دوی د الله تعالیٰ نه سیوا د هغه چا عبادت کوی چه نه ورته نفع رسولے شی او نه زیان ، او کافر خو

الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيْرًا ﴿٥٥﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿٥٦﴾

کافر | په مخالفت د رب خپل | پشتی ورکوونکے | او نه یئ رالیږلے مونږ ته | مګر | زیرے ورکوونکے | او ویرونکے .

هسے هم د خپل رب قدرتونو ته شا کړے ده. او مونږ خو ته بس خوشخبری رسونکے او ویرونکے لیږلے یې .

قُلْ مَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِلَّا مَنْ شَآءَ اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ

او وایه | نه غواړم زه له تاسو نه | په دے (تبلیغ) | څه اجر | مګر | څوک چه غواړی | چه اختیار کړی | خپل رب طرف ته

ته ووایه زه له تاسو نه د دے هدایت څه اجر خو نه غواړم مګر صرف دا چه څوک غواړی هغه د خپل رب طرف ته

سَبِيْلًا ﴿٥٧﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِىْ لَا يَمُوْتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ

لاره | او توکل وکړه | په هغه ژوندی ذات چه | هیڅ کله نه مری | او پاکی بیان کړه | د هغه په تعریف سره

نیغه لاره ونیسی ، او ته په هغه تل ژوندی (خدائے) باندی باور لره چه هیچرے نه مری او د هغه په تعریف کښے تسبیح

وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًا ﴿٥٨﴾ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

او کافی دے هغه | په ګناهونو | د بندګانو خپلو | خبردار | کوم چه | پیدا کړل | آسمانونه

لوله او هغه د خپلو بندګانو د ګناه نه بنه باخبره دے. (الله) هغه ذات دے چه آسمانونه او زمکه او مینځ

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۛ

او زمکه | او هغه څه چه | په مینځ د دوی کښے دی | په شپږو | ورځو کښے | بیا قائم شو | په عرش

تر مینځ څیزونه ئے په شپږو ورځو کښے را پیدا کړل ، بیا هغه په عرش باندے قائم شو .

اَلرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿٥٩﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا

دے بخښونکے دے | پس پوښتنه وکړه | د ده په حقله | له خبردار نه | او هر کله چه ووئیلے شی | دوی ته | چه سجده وکړئ

هم هغه رحمٰن دے پس د هغه په حقله د چا باخبره نه پوښتنه وکړه او هر کله چه دوی ته ووئیلے شی چه تاسو رحمٰن ته

لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۗ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا

رحمٰن ته | نو دوی وائی | او څه دے رحمٰن ؟ | آیا مونږ سجده وکړو | هغه څیز ته چه ته ئے مونږ ته حکم کوے

سجده وکړئ نو دوی وائی چه رحمٰن څوک دے ؟ آیا مونږ به هغه چا ته سجده کوو چه د چا په حقله (ته) را ته حکم راکوے

وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ۩ ﴿٦٠﴾ تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ

او ورکړه نه زیات شي دوی نفرت | بابرکته دے | هغه ذات | چه جوړ کړل | په آسمان کښے | برجونه | او جوړه ئې کړله

او دوی په نفرت کښے نور زیات وړاندې شي . مبارک دے هغه ذات چا چه آسمانونو کښے ستوري جوړ کړل او په هغې کښے ئې

فِیْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِیْرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ

په دے کښے | ډیوه | او سپوږمۍ | روښانه | او دے | هغه ذات دے | چه جوړ ئې کړله | شپه | او ورځ

یوه لویه ډیوه (نمر) او روښانه سپوږمۍ جوړه کړه . او هم هغه ذات (الله) دے چه شپه او ورځ ئې یو بل

خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ یَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ

د یو بل نه وروستو | د پاره د هغه چا چه غواړي | چه هغه غور وکړي | یا غواړي | شکر گزار جوړیدل | او بندګان | د رحمن

پسے ادل بدل راوستل (دا ګڼې) د هغه چا د پاره دی چه نصیحت حاصلول غواړي یا شکر اداکول غواړي ، او د الله تعالیٰ

الَّذِیْنَ یَمْشُوْنَ عَلَی الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ

هغه دی چه | روان دی | په زمکه | په قلاره | او هر کله چه خبره کوي د دوی سره | ناپوهه خلق

(رښتینی) بندګان خو هغه دي چه په عاجزۍ سره په زمکه ګرځي ، او چه جاهلان ورسره خبرے کوي

قَالُوْا سَلٰمًا ﴿٦٣﴾ وَالَّذِیْنَ یَبِیْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِیَامًا ﴿٦٤﴾

نو دوی وائي | سلام دے | او کوم خلق چه | شپے تیروي | د خپل رب د پاره | په سجده | او قیام کښے

نو دوی وائي چه زما سلام دے . او څوک چه شپه خپل رب ته په سجده او په قیام تیروي

وَالَّذِیْنَ یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا

او کوم خلق چه | وائي | اے زمارَبه! | لرے وساته | له موږ نه | عذاب | د دوزخ | بیشکه عذاب د دے

او څوک چه دا دعا غواړي چه اے زموږ ربه ! د دوزخ عذاب موږ نه لرے وساته ، بیشکه چه د هغه

كَانَ غَرَامًا ۖ ﴿٦٥﴾ اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِیْنَ اِذَآ اَنْفَقُوْا

لوئے مصیبت دے | بیشکه هغه | ډیره بد ده | تیکاو ځاے | او مقام | او هغه خلق | هر کله چه | خرڅ کوي

عذاب سمه تباهي ده ، هغه یقیناً ډیره خرابه تیکاو ځاے او خراب ځاے دے . او هغه خلق چه څه وخت خرڅ کوي

لَمْ یُسْرِفُوْا وَلَمْ یَقْتُرُوْا وَكَانَ بَیْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ وَالَّذِیْنَ

نو نه فضول خرچي کوي | او نه | تنګي کوي | او دي | په مینځ د دے کښے | اعتدال | او کوم خلق چه

نو نه خو مال بے ځایه الوزوي او نه شومتیا کوي او د هغوی خرڅ په اعتدال سره وي . او دا هغه خلق دي

لَا یَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا یَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ

نه بلي | الله سره | بل معبود | او نه وژني | هغه نفس | کوم چه | حرام کړے دے

چه د الله تعالیٰ سره بل څوک معبود نه بلي او د کوم نفس وژل چه الله تعالیٰ حرام کړی دی

اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا یَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ یَّفْعَلْ ذٰلِكَ یَلْقَ

الله | مګر | په حقه | او نه هغه زنا کوي | او څوک چه | کوي | دا سے کار | نو بیا به مومي

هغه نه وژني مګر په حقه او هغوی زنا نه کوي ، او څوک چه دا سے وکړي نو د ګناه سزا به

أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ

(سزا د) ګناه | دو چنده به کړے شي | ده ده پاره | عذاب | په ورځ | د قیامت | او هغه به همیشه وي | په هغې کښې

بیا مومي. د قیامت په ورځ به د هغه عذاب زیاتیږي، او هغه به په کښې همیشه خوار ذلیل

مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ

ذلیله شوے | مګر | چا چه | توبه وکړه | او ایمان ئے راوړو | او عمل ئے وکړو | عمل | نیک | پس هم داخلق دي

پروت وي، مګر څوک چه توبه وُباسي او ایمان راوړي او د نیکۍ کارونه کوي نو دا ئے خلقو له

يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾

چه بدل به کړي | الله | بدیانے د دوی | په نیکو | او دے | الله | بخښونکے | مهربان

به الله تعالیٰ د بدۍ په ځائے نیکۍ ورکړي او الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے.

وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾

او څوک چه | توبه کوي | او عمل کوي | نیک | پس بیشکه هغه | رجوع کوي | الله طرف ته | په رجوع کولو سره.

او څوک چه توبه وُباسي او د نیکۍ کارونه کوي نو هغه خاص د الله تعالیٰ اړخ ته رجوع کوي.

وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا

او هغه خلق چه | ګواهي نه ورکوي | دروغ | او هرکله چه دوی تیریږي | په فضول کارونو | نو تیریږي

او هغه خلق چه دروغ ګواهي نه ورکوي او هرکله چه په یو فضول مجلس باندې تیریږي نو په شریفانه

كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا

په عزت | او هغه خلق چه | هرکله دوی ته نصیحت کولے شي | په آیتونو د رب د دوی | نو نه پریوزي دوی | په (اوریدو) د هغې

انداز سره تیریږي، او هغوئي داسے خلق دي چه کله وخت ورته د خپل رب د آیتونو په ذریعه نصیحت کیږي نو هغوئي

صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا

کانړه | او ړانده | او هغه خلق چه | وائي | اے زمونږ ربه! | را کړه | مونږ ته

 پرے په بندو غوږونو او ړندو سترګو نه وړ پریوزي، او هغوئي داسے خلق دي چه دا دُعا کوي چه اے زمونږ ربه! مونږ ته د

مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾

له ښځو زمونږ نه | او له اولاد زمونږ نه | یخوالے | د سترګو | او جوړ کړه مونږ | د پرهیزګارانو | پیشوا

خپلو ښځو او د خپل اولاد د طرف نه د سترګو یخوالے راوبخښه او مونږ د پرهیزګارانو مشران کړه!

أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا

هم دے خلقو ته | به جزا ورکړے شي | بالاخانے (په جنت کښے) | ځکه چه | دوی صبر وکړو | او ورسره به شي دوی ته | په هغې کښے

هم دے خلقو ته به (په جنت کښے) بالاخانے ورکولے شي ځکه چه دوی صبر وکړو او هلته به په دوی دُعا او سلام

تَحِيَّةً وَسَلَامًا ﴿٧٥﴾ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٧٦﴾

دُعا د خیر | او سلام | همیشه به وي | په هغې کښے | ښکلے ښه | ځائے د هستوګنے | او ښه مقام (دے)

اچولے شي، چه همیشه به په کښې وُسیږي ښکلے ښه ځائے د هستوګنے دے او څومره ښه مقام دے

قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّىْ لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ج

وُوايه | پرواه نهٔ کوی | ستاسو | زما رب | کهٔ چرے نهٔ وی عبادت ستاسو

(اے پیغمبره!) تهٔ ورته ووایه چه زما رب به ستاسو یوه ذره قدرله پرواه هم ونهٔ کړی کهٔ تاسو عبادت نهٔ کوئ

فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ﴿۷۷﴾

پس بیشکه دروغ وګڼل تاسو | پس زر دے چه وی به | (سزا) لازمه

پس تاسو د حقهٔ حکمونه دروغ وګڼل نو اوس به د دے سزا لازمی وی

سُوْرَةُ الشُّعَرَآءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَانِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَسَبْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّاَحَدَ عَشَرَ رُكُوْعًا

سورۃ شعراء په مکه کښے نازل شوے | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ۲۲۷ ایتونه او ۱۱ رکوع ګانړه

شروع کوم په نوم د الله چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

طٰسٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ

طٰسٓمّٓ | دا | آیتونه دی | د کتاب | روښانه | شاید تهٔ | هلاکوونکے | خپل ځان

ط، سین، میم ۔ دا د یو واضح کتاب آیتونه دی ، د اے پیغمبره! شاید چه تهٔ به د دے خلقو په

اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۳﴾ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً

چه دوی ایمان نهٔ راوړی | کهٔ چرے وغواړو موږ | نو نازل به کړو | په دوی باندے | له آسمان نه | څهٔ نخښه

نهٔ مسلمانیدو پسے خپل ځان هلاک کړے ـ کهٔ موږ وغواړو نو په دوی به د آسمان نه یوه لویه نخښه راکوزه کړو

فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ﴿۴﴾ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ

پس شی به | څټونه د دوی | هغے ته | ټیټ | او نهٔ | راځی دوی ته | څهٔ نصیحت

نو د دوی څټونه به ورته ټیټ شی ، او دوی ته د رحمٰن خدائے له غاړے

مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ مُعْرِضِيْنَ ﴿۵﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْا

د (الله) رحمٰن د طرف نه | نوے | مګر | وی دوی | له هغے نه | مخ ګرځوونکی | پس بیشکه دوی دروغ وګڼل

نه هیڅ داسے یو نوے نصیحت نهٔ دے راغلے چه دوی ترے نه مخونه نهٔ وی اړولی ـ نو دوی خو (قرآن)

فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۶﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا

نو زر به راشی دوی ته | خبرونه | د هغے خبرے | کومے پورے چه دوی | خندا ملنډے کولے | آیا نهٔ دی کتلی دوی

دروغ وګڼلو خو ډیر زر به ورته د هغے خبرو اصلیت مخے ته راشی چه دوی به ورپورے خندا ملنډے کولے ، آیا دوی

اِلَى الْاَرْضِ كَمْ اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ﴿۷﴾ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ

زمکے طرف ته | چه څومره موږ راټوکولی | په دے کښے | هر قسم څیزونه | ښهٔ | بیشکه په دے کښے

زمکے ته نهٔ ګوری چه موږ په کښے څومره ښهٔ ښهٔ بوټی راز راز راټوکولی دی ؟ یقیناً په دے کښے (خلقو د

لَاٰيَةً ط وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۹﴾ ع

نخښه ده | او نهٔ دی | اکثر په دوی کښے | ایمان راوړونکی | او بیشکه | ستا رب | هغه ډیر غالب | مهربان دے

پاره) نخښه ده او په دے خلقو کښے اکثر کسان ایمان نهٔ راوړی او بیشکه چه ستا رب غالب مهربان دے

المنزل الخامس ۵

وَاِذْ نَادٰی رَبُّكَ مُوْسٰۤی اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۰﴾

اوهغه کله چه | آواز وکړو | ستا رب | موسیٰ ته | چه راشه | د ې | ظالمې ته

او هغه وخت (را یاد کړه چه) ستا رب موسیٰ ؑ ته آواز وکړو چه ته دغې ظالمانو خلقو ته یعنې د فرعون قوم ته

قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا یَتَّقُوْنَ ﴿۱۱﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَخَافُ

قوم | د فرعون ته | آیا دوی پرهیزګاري نه کوي | دهٔ ووئیل | اے زما ربه ! | بیشکه زهٔ | ویریږم

ورشه ! آیا هغوئ خان د عذاب نه بچ نه ساتي ؟ موسیٰ ؑ ووئیل اے زما ربه ! زهٔ د دے خبرے نه ویریږم

اَنْ یُّكَذِّبُوْنِ ﴿۱۲﴾ وَیَضِیْقُ صَدْرِیْ وَلَا یَنْطَلِقُ لِسَانِیْ فَاَرْسِلْ

له دے نه چه دوی به ما دروغژن وګڼي | او تنګیږي | زما سینه (زړهٔ) | او نهٔ چلیږي | زما ژبه | پس (وحي) ولیږه

چه هغوئ به م دروغژن وګڼي او زما زړهٔ تنګیږي ، او زما ژبه نهٔ چلیږي ، نو هارون ؑ ته هم

اِلٰی هٰرُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَهُمْ عَلَیَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ یَّقْتُلُوْنِ ﴿۱۴﴾ قَالَ كَلَّا ۚ

د هارون طرف ته (هم) | او د هغوئ | زما په ذمه | یو ګناه ده | پس زهٔ ویریږم | چه هغوئ به ما ووژني | وفرمائیل | هیڅکله نه

وحي ولیږه ، او زما په ذمه د هغوئ یو الزام دے نو زهٔ ویریږم چه قتل م نه کړي الله وفرمائیل چه هیڅکله نه

فَاذْهَبَا بِاٰیٰتِنَاۤ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿۱۵﴾ فَاْتِیَا فِرْعَوْنَ

پس لاړ شئ تاسو دواړه | زمونږ د نخښو سره | بیشکه مونږ تاسو سره یو | اورېدونکي | پس لاړ شئ | فرعون ته

تاسو دواړه زما حکمونه یوسئ مونږ تاسو سره یو ، هر څهٔ اورو ، نو تاسو دواړه فرعون ته ورشئ او ورته

فَقُوْلَاۤ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۶﴾ اَنْ اَرْسِلْ

بیا ووایئ | چه بیشکه مونږ | رسولان یو | د ټولو جهانونو د رب | چه | ته ولیږه

ووایئ چه مونږ د رب العالمین رالیږلی شوی پیغمبران یو ، چه ته بنی اسرائیل مونږ سره

مَعَنَا بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ ﴿۱۷﴾ قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِیْنَا وَلِیْدًا

مونږ سره | بنی اسرائیل | دهٔ ووئیل | آیا ته مونږ نه یئ پاللے | په خپل مینځ کښے | په ورکوالي کښے

ولیږه (چه خپل وطن فلسطین ته لاړ شي) (فرعون) ووئیل چه آیا مونږ په ورکوالي کښے ستا پالنه د لته نهٔ ده کړے او ته

وَلَبِثْتَ فِیْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِیْنَ ﴿۱۸﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ

او پاتے شوے تهٔ | په مونږ کښے | له عمر خپل نه | ډیر کلونه | او وکړو تا | خپل (هغه) کار

د خپل عمر په څو څو کلونو کښے مونږ سره یو ځائے اوسیدلے یئے ، او هغه حرکت هم تا کړے وو (په کوم کښے چه زمونږ

الَّتِیْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۹﴾ قَالَ فَعَلْتُهَاۤ اِذًا

کوم چه | تا وکړو | او ته | له ناشکرګزارو نه یئے | دهٔ ووئیل | ما هغه کار کړے وو | هغه وخت

سړے وژلے شوے وو) او ته ډیر ناشکره یئے . (موسیٰ ؑ) ووئیل بیشکه ما هغه وخت دا حرکت کړے

وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّیْنَ ﴿۲۰﴾ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ

او زهٔ وم | له ناخبرو نه | نو زهٔ وتښتیدم | له تاسو نه | هرکله چه زهٔ ووېریدم له تاسو نه

وو او ما نه غلطي شوے وه . نو زهٔ تاسو نه ویریدم او وتښتیدم ،

فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝٢١

بيا عطا كړو ماته | زما رب | حكم (نبوت) | او زه ئے جوړ كړم | له رسولانو نه

بيا زما رب ماته دانائي وبخښله ، او زه ئے په پيغمبرانو كښې شامل كړم.

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝٢٢

او دا | نعمت دے | چه احسان كوے ته د هغې | په ما باندې | چه غلامان دې كړل | بني اسرائيل

او دا (زما د پرورش) احسان چه ته په ما كوے (ددے وجه دا ده) چه تا بني اسرائيل غلامان جوړ كړي دي.

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٢٣ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

وو ئيل | فرعون | او څه دے | (هغه) د ټولو جهانونو رب؟ | ده وو ئيل | رب دے | د آسمانونو

فرعون وو ئيل چه پروردګار عالم څوك دے؟ موسىٰؑ جواب وركړو چه هغه د آسمانونو او د زمكې

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ۝٢٤ قَالَ لِمَنْ

او د زمكې | او څه چه | د دے په مينځ كښې دي | كه چرې تاسو يئ | يقين كوونكي | (فرعون) وو ئيل | هغه چاته چه

او د مينځ تر مينځ ټولو څيزونو پالونكے دے كه ستاسو يقين وي . فرعون خپل ګير چاپيره زماستو ملګرو

حَوْلَهٗٓ اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ۝٢٥ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآىِٕكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ۝٢٦

د ده نه چار چاپيره وو | آيا تاسو آورئ | ده فرمائيل | رب د ستاسو | او رب دے ستاسو د مخكنو پلارانو.

ته وو ئيل چه تاسو واورېدل؟ موسىٰؑ ورته وو ئيل چه هغه ستاسو هم رب دے او ستاسو د پلارنيكه هم رب دے

قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ ۝٢٧

(فرعون) وو ئيل | بيشكه | ستاسو پيغمبر | كوم چه | رالېږلے شوے دے | ستاسو طرف ته | ليونے دے.

فرعون وو ئيل چه ستاسو دا رسول چه تاسو ته راغلے دے ، دا خو ليونے دے.

قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ

(موسىٰؑ) وو ئيل | رب دے | د مشرق | او مغرب | او څه چه | د دے په مينځ كښې دي | كه چرے تاسو

موسىٰ وو ئيل چه هغه (الله) د مشرق او مغرب او څه چه د دے په مينځ كښې دي د ټولو رب دے كه تاسو د عقل

تَعْقِلُوْنَ ۝٢٨ قَالَ لَىِٕنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ لَاَجْعَلَنَّكَ

عقل لرئ | (فرعون) وو ئيل | كه چرے ونيولو تا | څوك (بل) معبود | بے له ما نه | نو خامخا به كړم زه تا

نه كار اخلئ . فرعون وو ئيل كه چرے تا زما نه سيوا بل څوك معبود جوړ كړو ، نو زه به تا قيد

مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ۝٢٩ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُّبِيْنٍ ۝٣٠

له قيديانو نه | ده فرمائيل | آيا اګر كه زه راوړم تاته | يو څيز | ښكاره

كړم . موسىٰؑ وو ئيل چه اګر كه زه درته ښكاره خبره وړاندې كړم (نو بيا به هم بندي كوے؟)

قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٣١ فَاَلْقٰى

ده وو ئيل | نو ته راوړه | هغه څيز | كه چرې | ته يې | له رښتيا ويونكو نه | پس د غورزوله ده

فرعون وو ئيل چه (ښه ده) ته خپل دليل راوړاندې كړه كه ته رښتينے يې؟ نو موسىٰؑ خپله امسا

عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَّنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ

خپله امسا | نو ناڅاپه هغه شوه | اژدها | ښکاره | او راويې ويستلو | لاس خپل | نو ناګهانه هغه ده

وغورځوله نو د هغې څوڅه غټه اژدها جوړه شوه ۔ او لاس ئې (د ترخ نه) بهر راوويستلو نو يو توکتو نکو

بَيْضَاءُ لِلنّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗ اِنَّ هٰذَا

ځلنده سپين | د ليدونکو د پاره | (فرعون) ووئيل | سردارانو ته | چه د ده نه چار چاپيره وو | چه بيشکه دا

ته ځلنده سپين ښکاره شو ۔ فرعون خپل ګير چاپيره دلباريانو ته ووئيل چه دا سړے خو ډير

لَسٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ يُّرِيدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ

جادوګر دے | پوهه | دے غواړي چه | وُباسي تاسو | ستاسو له زمکے نه | په خپل جادو سره ۔

پوهه جادوګر دے ۔ دے غواړي چه تاسو د خپل جادو په زور د ملک نه بهر وُباسي نو (د ده په حقله)

فَمَاذَا تَاْمُرُونَ ﴿٣٥﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَآئِنِ

پس د څه څيز حکم کوئ | دوي ووئيل | مهلت ورکړه ده ته | او د ده ورور ته | او ولېږه | په ښارونو کښے

تاسو ماته څه مشوره راکوئ؟ دوئ ووئيل چه ده ته او د ده ورور ته (څه ټر) مهلت ورکړه او ټولو ښارونو ته

حٰشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَاْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ

نقيبان | چه دوي راولي تاته | هر | جادوګر | پوهه | پس راجمع کړے شول | جادوګران

سپاهيان ولېږه چه ټول پوهه جادوګر درته راحاضر کړي ۔ نو ټول جادوګران د يو مقرر ورځے

لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾ وَّقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾

په يو مقرر وخت | د يوے مقررے ورځے | او ووئيلے شول | خلقو ته | آيا | تاسو جمع کيدونکي يئ؟

په يو ټاکلي وخت راجمع کړے شول ، او خلقو ته وويلے شول چه آيا تاسو هم جمع کيږئ (يعني جمع شئ)

لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوا هُمُ الْغٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا

شايد چه مونږ | پيروي وکړو | د جادوګرو | که چرته شول | هم دوي | غالب | پس هر کله چه

د پاره د دے چه که جادوګران غالب شول نو چه مونږ د هغوئ په لاره روان پاتے شو ۔ نو څه وخت چه

جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ اَئِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ

راغلل | جادوګران | نو ئے وئيل | فرعون ته | آيا وي به مونږ د پاره | څه بدله | که چرے شو مونږ

جادوګران راغلل نو فرعون ته ئے ووئيل چه که چرے مونږ غالب شو نو آيا مونږ ته به څه انعام هم

الْغٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ اِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾

غالب | وئے وئيل | هو! | او بيشکه تاسو به | په دغه وخت | (زما) له مقربانو نه (يئ)

ملاويږي ۔ فرعون ووئيل چه هو! او په دے صورت کښے به تاسو زما د دربار په نزديکانو کښے شامل شئ

قَالَ لَهُمْ مُّوسٰٓى اَلْقُوا مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ

ووئيل | دوي ته | موسیٰؑ | چه وغورځوئ | څه چه تاسو | غورځونکي يئ | پس دوي وغورځول | خپلے رسئ

موسیٰؑ ورته ووئيل چه تاسو چه څه غورځول غواړئ هغه (ميدان ته) راوغورځوئ ، نو هغوئ خپل پړي او لګونه

وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾

او امسا گانے خپلے | او دوی وویل | قسم دے په عزت | دَ فرعون | بیشکه هم موږ به | غالب یُو

دَ غورزول او دائے وویل دَ فرعون دَ عزت او جلال قسم دے چه موږ به هرو مرو کامیاب یو.

فَاَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿٤٥﴾ فَاُلْقِىَ

پس وغورزوله | موسیٰؑ | خپله امسا | نو ناگهانه هغه | تیرول شروع کړل | څه چه | دوی جوړ کړی وو | پس پریوتل

بیا موسیٰؑ (هم) خپله امسا وغورزوله نو فوراً امسا دَ هغوی جوړه کړے نظربندی تیرول شروع کړه. نو ټول جادوګران

السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ

جادوګران | په سجده کښے | دوی وویل | موږ ایمان راوړو | په رب دَ ټولو جهانونو | (چه) رب دے

پرمخ په سجده پریوتل. دائے وویل چه موږ په رب العٰلمین ایمان راوړو، چه دَ موسیٰؑ

مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ

دَ موسیٰؑ | او دَ هارونؑ | (فرعون) وویل | تاسو ایمان راوړو | په دهٔ | وړاندې له دے نه چه | زهٔ اجازت درکړم

او دَ هارونؑ رب دے. فرعون وویل چه تاسو زما دَ اجازت نه وړاندې په موسیٰؑ باندې ایمان

لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِىْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ

تاسو ته | بیشکه دے | ستاسو مشر دے | کوم چه | وښودو تاسو ته | جادو | پس ژر به

راوړو، بیشکه دا (موسیٰ) ستاسو مشر دے چا چه تاسو ته جادو ښودلے دے. ډیر ژر به تاسو ته

تَعْلَمُوْنَ ۬ؕ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ

تاسو ته معلوم شی | خامخا به پرېکړم زهٔ | ستاسو لاسونه | او ستاسو ښپې | دَ مخالفو طرفونو نه

(دَ دے انجام) معلوم شی - زهٔ به ستاسو دَ یوے غاړے لاس او دَ بلے غاړے ښپه پرې کړم

وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٩﴾ قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۡ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا

او خامخا به په سولئ کړم تاسو | ټول | دوی وویل | هیڅ تاوان نشته | بیشکه موږ | خپل رب طرف ته

او تاسو ټول به په سولئ زوړند کړم. هغوی وویل چه هیڅ خبره نه ده موږ یقیناً خپل رب

مُنْقَلِبُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ

واپس تلونکی یُو | بیشکه موږ اُمید لرو | چه وُبه بخښی | موږ ته | زموږ رب | زموږ ګناهونه

ته واپس تلونکی یُو. موږ اُمید لرو چه زموږ رب به زموږ ګناهونه معاف کړی

اَنْ كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥١﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ ع ٣ ١٨ ٧

(ځکه) چه موږ یُو | اول | ایمان راوړونکی | او موږ وحی وکړه | موسیٰؑ طرف ته | چه شپه په شپه روان کړه

ځکه چه موږ دَ ټولو نه وړومبے ایمان راوړے دے. او موږ موسیٰؑ ته حکم وکړو چه زما بندګان شپه په شپه

بِعِبَادِىْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿٥٢﴾ فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى الْمَدَآئِنِ

زما بندګان | بیشکه ستاسو | تعاقب به کولے شی | پس ولیږل | فرعون | په ښارونو کښے

(دَ مصر نه) بهر وُباسه (خو) در پسے به تګل کیږی، نو فرعون په ټولو ښارونو کښے سپاهیان

حٰشِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ ﴿٥٤﴾ وَاِنَّهُمْ لَنَا

جمع کوونکی | بیشکه دا خلق | یوه ډله ده | لږه شان | او بیشک دوی | موږ له

ګوښې. (او وې ویل چه) دا یو ورکوټی شان ټولی دی ، او دوی موږ ډیر زیات

لَغَآئِظُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ

غصه راولی | او بیشکه موږ | ټول | باوسله یو | بیشکه موږ ویستل دوی | له باغونو

غصه ولی یو ، او موږ ټول په وسله پوره خلق یو . غرض دا چه موږ دغه فرعونیان د باغونو

وَّعُيُوْنٍ ﴿٥٧﴾ وَّكُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿٥٨﴾ كَذٰلِكَ وَاَوْرَثْنٰهَا

او چینو نه | او له خزانو | او له ښه ځایونو نه | دغه شان | او موږ وارثان جوړ کړل د دی

او د چینو نه او د خزانو او د ښائسته کورونو نه بهر وویستل ، دا مو وکړل او موږ بنی اسرائیل د

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٥٩﴾ فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَآءَ

بنی اسرائیل | پس دوی هغوی پسی شول | د نمر ختلو په وخت | پس هر کله چه | ووینې لیدل یو بل

دوی وارثان جوړ کړل ، هغوی د نمر ختلو په وخت بنی اسرائیلو پسی شول . هر کله چه دواړو ډلو یو بل

الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّا اِنَّ

دواړو ډلو | (نو) وویل | ملګرو د موسیٰ | بیشکه موږ خو راګیر شو . | وې فرمایل | هیڅکله نه | بیشک

وکتل نو د موسیٰ ملګرو وویل چه موږ خو بس سم راګیر شو موسیٰ وفرمایل چه هیڅکله نه بیشک

مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ﴿٦٢﴾ فَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنِ اضْرِبْ

ماسره دی | زما رب | زر به ما ته لاره وښائی | پس موږ وحی وکړه | موسیٰ طرف ته | چه ووهه ته

زما رب ماسره دے هغه به را ته لاره وښائی ، هغه وخت موږ موسیٰ ته حکم وکړو چه په خپله امسا

بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ

خپله امسا | په دریاب کښې | پس هغه وشلیدلو | او شو | هر یوه ټکړه | په شان د غر

دریاب ووهه . نو دریاب وشلیدو او (د اوبو) هره یوه ټکړه د لوئې غر په شان

الْعَظِيْمِ ﴿٦٣﴾ وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَاَنْجَيْنَا مُوْسٰى

لوئې | او نزدے کړل موږ | دغه ځائے ته | نور | او موږ خلاصے ورکړو | موسیٰ ته

شوه . او موږ بل فریق (کفار) هم نزدے ورسولو . او موږ موسیٰ او د هغه

وَمَنْ مَّعَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿٦٦﴾ اِنَّ

او څوک چه | د ده سره ؤو | ټول | بیا | موږ غرق کړل | نور | بیشکه

ملګری ټول بچ کړل . بیا دویم فریق (فرعونیان) مو ډوب کړو . یقیناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٦٧﴾

په دے کښې | یوه نخښه ده (د قدرت) | او نه ؤو | اکثر له دوی نه | مؤمنان

په دے واقعه کښې د یر لوئې سبق (پند) پروت دے او په دوی کښې اکثر خلق ایمان راوړونکی نه دی .

ع ۴ ۸

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ

اوبیشکه | ربّ ستا | خامخا هم دے | غالب | مهربان | او ولوله | په دوی باندې | خبر

او ستا رب یقیناً غالب او مهربان دے. او (اے نبیؐ!) دوی ته د ابراهیمؑ قصه

إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا

وقف لازم

د ابراهیم | هرکله چه ده ووئیل | خپل پلار ته | او خپل قوم ته | چه د څه څیز تاسو عبادت کوئ؟ | دوی ووئیل

(هم) واوروه. هرکله چه هغهٔ خپل پلار او خپل قوم ته ووئیل چه دا تاسو د څه څیز عبادت کوئ؟ هغوئ ووئیل

نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلْ

مونږ عبادت کوو | د بتانو | پس مونږ یُو | هغوئ ته | پاخهٔ ناست | ده ووئیل | آیا

چه مونږ د بتانو عبادت کوو او هم د هغوئ په عبادت قائم یُو. ابراهیمؑ ورته ووئیل چه آیا دوئ

يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴿٧٢﴾ أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾

دوئ ستاسو (خبره) آوری | هرکله چه | تاسو ئے بلئ | یا دوئ تاسو ته نفع دررسوی؟ | یا دوئ زیان درکوی؟

ستاسو خبره آوریدے شی کله چه تاسو دوئ ته بلنه کوئ؟ یا تاسو ته څهٔ فائده یا ضرر درکولے شی؟

قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٧٤﴾ قَالَ

دوی ووئیل | (نا) بلکه | موندلی دی مونږ | پلاران خپل | چه داسے یې ئے کول. | ده ووئیل

هغوئ ووئیل چه نا خو بس مونږ خپل پلار نیکهٔ په دے کار د ښے موندلی دی. ابراهیمؑ ووئیل

أَفَرَأَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾

آیا تاسو لیدلی دی | هغه څهٔ ته چه عبادت ئے کوئ تاسو | تاسو | او پلرونو ستاسو | پخوانو

چه آیا تاسو د دغے معبودانو حالت لیدلےهم دے، تاسو یا ستاسو پخوانو پلارانو نیکونو؟

فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿٧٧﴾ الَّذِي خَلَقَنِي

پس بیشکه دوی | زما دښمنان دی | سیوا د ربّ | د عالمونو | کوم چه | زهٔ پیدا کړم

هغه ټول زما دښمنان دی سیوا د هغه رب العالمین نه کوم چه زهٔ پیدا کړم (او)

فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ

پس هم دے | لاره ښائی ماته | او هغه ذات چه | طعام راکوی ماته | او څښاک راکوی ماته | او هرکله چه | زهٔ بیمار شم

هم دے ماته سمه لاره ښائی او هغه رب چه په ما باندې خوروی او څښوی او څهٔ وخت چه زهٔ بیمار شم

فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾ وَالَّذِي

نو هم دے | شفا راکوی ماته | او هغه ذات چه | مرګ کوی په ما | بیا به | ژوندے کوی ما | او هغه د کوم نه

نو هم دے راته شفا راکوی او دے به راته (په وخت) مرګ راکوی او بیا به مې ژوندے کوی او هغه (الله چه)

أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِي

چه زهٔ اُمید لرم | چه وُبه بخښی ماته | ګناه زما | په ورځ | د قیامت | اے زما ربه! | عطا کړه ماته

د کوم نه زهٔ اُمید لرم چه زما ګناهونه به د قیامت په ورځ وُبخښی، اے زما ربه! ما ته (د) حکمت

حُكْمًا وَّ اَلْحِقْنِیْ بِالصّٰلِحِیْنَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَلْ لِّیْ لِسَانَ صِدْقٍ

رښتینې | ذکر | ما د پاره | او کړه | په نیکو بندګانو کښې | او شامل کړه ما | حکمت

(لازوال دولت) و بخښه او ما په خپلو نیکانو خلقو کښې شامل کړه. او زما د نیکنامۍ ذکر په راتلونکو نسلونو کښې

فِی الْاٰخِرِیْنَ ﴿٨٤﴾ وَاجْعَلْنِیْ مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِیْمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ

په وروستو راتلونکو خلقو کښې | او جوړ کړه ما | له وارثانو نه | د جنت | د نعمتونو والا | او معاف کړه

جاری وساته، او ما د نعمتونو نه د ډک جنت وارث کړه. او زما پلار (هم)

لِاَبِیْۤ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّآلِّیْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِیْ یَوْمَ

زما پلار | بیشکه دے | دے | له ګمراهانو نه | او مه رسوا کوه ما | په کومه ورځ

و بخښه، بیشکه چه هغه په ګمراهانو کښې شامل دے. او په هغه ورځ ما مه شرموه چه خلق

یُبْعَثُوْنَ ﴿٨٧﴾ یَوْمَ لَا یَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا مَنْ

چه به قبرونو نه پاڅولے شي | په کومه ورځ چه | به نفع نه ورکوی | مال | او نه اولاد | مګر څوک چه

به بیا راژوندی کیږی، په کومه ورځ چه نه به مال په کار راځی او نه اولاد، خو بس څوک چه الله تعالیٰ ته

اَتَی اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِیْمٍ ﴿٨٩﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ

راشي | الله ته | په زړه | پاک سره | او نږدې به کړے شي | جنت | پرهیزګارانو د پاره | او ښکاره به کړے شي

(د شرک او د ګناه نه) پاک زړه یوسي، او په کومه ورځ چه نیکانو ته به جنت نږدے کړے شي او ګمراهانو ته

الْجَحِیْمُ لِلْغٰوِیْنَ ﴿٩١﴾ وَقِیْلَ لَهُمْ اَیْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٩٢﴾

دوزخ | ګمراهانو ته | او وبه ویلے شي | دوی ته | چرته دی | هغه د کومو چه تاسو عبادت کولو؟

به دوزخ ښکاره کړے شي او ورته به وویلے شي چه هغه معبودان مو څه شول چه تاسو به د هغوی عبادت کولو؟

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ هَلْ یَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ یَنْتَصِرُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوْا

سیوا | د الله نه | آیا | دوی ستاسو مدد کولے شي | یا بدله اخستے شي؟ | پس پرځے به واچولے شي

د الله تعالیٰ نه بغیر آیا هغوی نن ستاسو مدد کولے شي یا بدله اخستے شي؟ نو بیا به دغه معبودان او

فِیْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُوْدُ اِبْلِیْسَ اَجْمَعُوْنَ ﴿٩٥﴾ قَالُوْا

په هغې کښې | هغه (بتان) | او ګمراهان | او لښکرے | د شیطان | ټول یو ځائے | دوی به وائی

دغه ګمراهان ټول په دوزخ کښې پرمخې وغورزولے شي او د شیطان ټولے لښکرے ورسره هم. نو کافران به

وَهُمْ فِیْهَا یَخْتَصِمُوْنَ ﴿٩٦﴾ تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿٩٧﴾

او دوی به | په هغې کښې | د یو بل سره جګړے کوی | قسم په الله | بیشکه وو مونږ | په ګمراهۍ کښې | ښکاره.

په دوزخ کښې یو بل سره جګړے کوی او دا به وائی قسم په الله چه مونږ په ښکاره ګمراهۍ کښې پراته وو چه

اِذْ نُسَوِّیْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿٩٨﴾ وَمَاۤ اَضَلَّنَاۤ اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٩٩﴾

کله چه مونږ برابر ګڼړلئ تاسو | د پروردګار د عالمونو سره | او نه وو ګمراه کړی مونږ | مګر (دے) مجرمانو

تاسو مو د رب العٰلمین سره برابر ګڼړلئ. او مونږ خو بل چا نه، بلکه دے (مشرانو) مجرمانو ګمراه کړو.

فَمَا لَنَا مِنْ شٰفِعِيْنَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَوْ اَنَّ لَنَا

پس نشته دے زمونږ | څوک سفارش کوونکے | او نه څوک دوست | غم خوار | پس کاش! | چه وی مونږ د پاره

نو اوس هیڅوک زمونږ سفارشی نشته او نه مونږ څوک اخلاصی دوست شته ، نو څنګه به ښه وے که (دنیا

كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٢﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

یو بل موقع | نو شو به مونږ | له مومنانو نه | بیشکه | په دے کښے | نخښه ده (د قدرت)

ته) یو ځل د واپس تللو موقع راکولے شوے نو مونږ به مسلمانان شوی وو. بیشکه چه په دے واقعه کښے لوئے سبق پروت دے

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٣﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

او نه دی | اکثر له دوی نه | مؤمنان | او بیشکه | ستا رب | هم دے دے | غالب

او د دوی اکثر خلق ایمان نه راوړی . او بیشکه ستا رب ډیر زبردست مهربان

الرَّحِيْمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ ﹰالْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٠٥﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ

مهربان | دروغ وګڼل | قوم د نوحؑ | پیغمبران | هر کله چه و وئیل | دوی ته

دے ، د نوح علیه السلام قوم پیغمبران دروغژن وګڼل ، څه وخت چه د هغوی ورور (برادری)

اَخُوْهُمْ نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٠٦﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٠٧﴾

د دوی ورور | نوحؑ | آیا نه ویریږئ تاسو | بیشکه زه | تاسو د پاره | پیغمبر | امانت دار یم .

ورور نوحؑ ورته وو وئیل چه آیا تاسو د الله تعالیٰ نه نه ویریږئ؟ بیشکه زه ستاسو امانت دار پیغمبر یم

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٠٨﴾ وَمَا اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ

پس ویریږئ | د الله نه | او حکم منئ زما | او زه نه غواړم له تاسو نه | په دے (تبلیغ) | څه اجر

نو د الله تعالیٰ نه ویریږئ او زما خبره منئ . او زه تاسو نه څه بدله خو نه غواړم .

اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١١٠﴾

نه دے | اجر زما | مګر | په پروردګار | د عالمونو | پس ویریږئ | د الله نه | او حکم منئ زما

زما بدله خو د رب العالمین په ذمه ده . نو تاسو د الله تعالیٰ نه ویریږئ او زما خبره منئ .

قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿١١١﴾ قَالَ وَمَا عِلْمِيْ

دوی وو وئیل | آیا مونږ ایمان راوړو | په تا | حالانکه پیروی کړے ستا | ذلیلو خلقو | نوحؑ وو وئیل | او ما ته څه خبر دے

هغوی جواب ورکړو چه آیا مونږ په تا باندے ایمان راوړو حالانکه ستا پیروی حقیر خلق کوی ، نوحؑ جواب ورکړو چه ما ته څه معلوم

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١١٢﴾ اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا عَلٰى رَبِّيْ

چه دوی څه کول | نه دے | حساب د دوی | مګر | زما په رب دے

ده چه هغوی څه کوی . د هغوی حساب زما د رب په ذمه دے ، کاش! چه

لَوْ تَشْعُرُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٤﴾ اِنْ اَنَا اِلَّا

که چرے تاسو پوهیږئ | او | نه یم زه | شړونکے | د مؤمنانو | نه یم زه | مګر

تاسو (په دے خبره) پوهیدلے او زه مؤمنان د ځان نه شړلے نه شم . زه خو نو څه نه یم

نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ

ویرونکے | ښکاره | دوی ووئیل | که چیرے منع نه شوے ته | اے نوحه! | نو خامخا به شے ته

خو یوڅرګند ویرونکے یم. هغوی ووئیل چه اے نوحه! که ته (د دې خبرونه) منع نه شوے نو خامخا به سنګسار

مِنَ الْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَافْتَحْ

له سنګسار شوو نه | ده ووئیل | اے ربه زما! | بیشکه زما قوم | دروغ وګڼلم زه | پس فیصله وکړه

کړے شے. نوحه دعا وکړه چه اے زما ربه! زما قوم زه دروغژن وګڼلم. نو ته زما او د دوی

بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾

په مینځ زما | او په مینځ د دوی کښے | فیصله (قطعی) | او نجات راکړه ماته | او هغه چا ته | چه ما سره دی | له مؤمنانو نه

ترمینځه یوه فیصله وکړه، او ما له او زما ایمانداره ملګرو له نجات راکړه

فَأَنجَيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا

پس مونږ نجات ورکړو ده ته | او هغو کچه | ده سره وو | په کشتئ کښے | چه ډکه کړے شوے وه | بیا غرق کړل مونږه

نو بیا مونږ هغه هم او د هغه سره په ډکه کشتئ کښے ناست ملګری هم خلاص کړل. بیا مو باقی پاتے

بَعْدُ الْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم

پس له دے نه باقی پاتے شوی | بیشکه | په دے کښے | خامخا نخښه ده | او نه وو | اکثر له دوی نه

خلق ډوب کړل. بیشکه چه په دے واقعه کښے لوئے سبق پروت دے، او په دوی کښے اکثر خلق ایمان

مُّؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ

ایمان راوړونکی | او بیشکه ستا رب | هم دے دے | غالب | مهربان | دروغژن وګڼل

نه راوړی. او بیشکه ستا رب زبردست دے، مهربان دے. د عاد خلقو هم پیغمبران

عَادٌ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾

(قوم د) عاد | پیغمبران | هرکله چه | ووئیل | دوی ته | ورور د دوی | هود | آیا نه ویریږئ تاسو

دروغژن وګڼل. هرکله چه د هغوی ورور هود ووئیل چه آیا تاسو (د خدائے د ګرفت نه) نه ویریږئ

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾

بیشکه زه | تاسو د پاره | پیغمبر | امانتدار یم | پس ویریږئ | د الله نه | او حکم منئ زما

دا ورئ! زه تاسو د پاره امانت دار پیغمبر یم. نو د الله تعالیٰ نه ویریږئ او زما خبره منئ

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ

او زه نه غواړم له تاسو نه | په دے (تبلیغ) | څه اجر | نه دے | اجر زما | مګر | په رب

او زه له تاسو نه په دے کار باندې هیڅ بدله نه غواړم. زما بدله خو د رب العالمین په

الْعَالَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ

د ټولو جهانونو | آیا آبادوئ تاسو | په هره اوچته زمکه | یوه نخښه (عمارت) | بے فائدے؟ | او جوړوئ تاسو

ذمه ده. آیا تاسو په هر اوچت ځائے باندې فضول یادګارونه جوړوئ او د ننګ دکښے ماڼئ

النصف

ع ١٠

مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿١٢٩﴾ وَاِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ

دنگے ښکلے مانړۍ | شاید چه تاسو به | همیشه پاتے کیږئ | او هرکله چه | تاسو رانیسئ | نو رانیسئ

ابادوئ لکه چه همیشه به دلته استوګن یئ۔ او چه څوک رانیسئ نو ډیر په جبر سره

جَبَّارِيْنَ ﴿١٣٠﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٣١﴾ وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ اَمَدَّكُمْ

د ظالمانو په شان | پس ویریږئ | د الله نه | او حکم منئ زما | او ویریږئ | له هغه ذات چه | امداد ئې کړے ستاسو

ئې رانیسئ۔ نو د الله تعالیٰ نه ویریږئ او زما خبره ومنئ، او د هغه ذات نه وویریږئ چا چه ستاسو

بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٣٢﴾ اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنّٰتٍ

له هغه څه نه | چه تاسو پرے پوهیږئ | امداد ئې کړے د ستاسو | په چارپایانو | او په ځامنو | او په باغونو

په هغه څیزونو سره مدد وکړو کوم چه تاسو ته معلوم دی یعنی هغه د څاروو او د اولاد په شکل کښے ستاسو مدد وکړو او په

وَّعُيُوْنٍ ﴿١٣٤﴾ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوْا

او په چینو سره | بیشکه زه | ویریږم | په تاسو | له عذاب | د ورځے | لوئے | دوی وویل

باغونو او چینو سره۔ ما ته ستاسو په معامله کښے د لوئے ورځے د عذاب اندیښنه ده۔ هغوی جواب ورکړو

سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَوَعَظْتَ اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ﴿١٣٦﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

برابره ده | په مونږ ده | چه ته نصیحت وکړے | یا نه یئ ته | له نصیحت کوونکو نه | نه دے دا | مګر

مونږ د پاره برابره ده که ته راته نصیحت وکړے یا ئې ونه کړے۔ دا خو بس د پخوانو

خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَهْلَكْنٰهُمْ

عادت د مخکښو خلقو | او نه یو مونږ ده | عذاب کړی شوی | پس دوی دروغ وګڼلو هغه | پس هلاک کړل مونږ هغوی

خلقو عادت تو نه دی۔ او مونږ ته به هیڅ عذاب راکولے نه شی پس هغوی هود دروغ وګڼلو نو مونږ هغوی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٩﴾

بیشکه | په دے کښے | نخښه ده (د قدرت) | او نه ؤ | اکثر له دوی نه | ایمان راوړونکی

هلاک کړل، بیشکه په دے کښے نخښه د عبرت ده، او په دوی کښے اکثر خلق ایمان نه راوړی۔

وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٤٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٤١﴾

او بیشکه | ستا رب | هم هغه دے | غالب | مهربان | دروغ وګڼل | قوم د ثمود | پیغمبران

او ستا رب یقیناً زبردست دے مهربان دے۔ (دغه شان) قوم د ثمود پیغمبران دروغژن وګڼل۔

اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٤٢﴾ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ

هرکله چه ووئیل | دوی ته | د دوی ورور | صالح؈ | آیا تاسو نه ویریږئ | بیشکه زه | ستاسو د پاره | پیغمبر

څه وخت چه د دوی ورور صالح؈ دوی ته ووئیل، آیا تاسو (د الله تعالیٰ د نافرمانئ نه) نه ویریږئ؟ زه تاسو د پاره یو امانتدار

اَمِيْنٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ اَسْــَٔلُكُمْ عَلَيْهِ

امانت داریم | پس ویریږئ | د الله نه | او حکم ومنئ زما | او زه نه غواړم له تاسو نه | په دے (تبلیغ)

پیغمبریم، پس تاسو د الله تعالیٰ نه ویریږئ او زما حکم منئ۔ او زه تاسو نه د دے خبرے هیڅ

ع ٨ / ١١

مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿١٤٥﴾ اَتُتْرَكُوْنَ

څۀ بدله | نۀ ده | زما بدله | مګر | په رب | د عالمونو | آیا تاسو به پرېښودې شئ

معاوضه نۀ اخلم ، زما معاوضه خو د پروردګار عالم په ذمه ده . آیا کوم څیز دنه چه په دُنیا کښې

فِیْ مَا هٰهُنَاۤ اٰمِنِیْنَ ﴿١٤٦﴾ فِیْ جَنّٰتٍ وَّعُیُوْنٍ ﴿١٤٧﴾ وَّزُرُوْعٍ

په هغه څۀ کښې | چه دلته دی | په امن سره | په باغونو کښې | او په چینو کښې | او په فصلونو کښې

تاسو به په دې کښې په امن سره پرېښودې شئ ؟ (یعنی) په باغونو او چینو کښې ، او په فصلونو کښې

وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِیْمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُیُوْتًا

او په کجورو کښې | چه خوشه د هغې | نازکه ده | او تاسو تراشئ | له غرونو نه | کورونه

او په کجورو کښې د کومو خوشې چه نرمې او نازکې وی ، او تاسو غرونه تراشئ او د فخر د پاره په کښې مانړۍ

فٰرِهِیْنَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِیْعُوْۤا اَمْرَ الْمُسْرِفِیْنَ ﴿١٥١﴾

په فخر سره | پس ویرېږئ | د الله نه | او زما حکم منئ | او مۀ منئ | حکم | له حد نه د تېرېدونکو

جوړوئ ، نو تاسو د الله تعالیٰ نه ویرېږئ او زما خبره منئ او د حد نه د تېرېدونکو خبره مۀ منئ

الَّذِیْنَ یُفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِ وَلَا یُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوْۤا اِنَّمَاۤ اَنْتَ

کوم چه | فساد کوی | په زمکه کښې | او اصلاح نۀ کوی | دوی ووئیل | بېشکه ته یې

چه په ملک کښې فساد خوروی او سم کار هم د لاسه نۀ کېږی . هغوئ ورته ووئیل چه په تا خو چرته

مِنَ الْمُسَحَّرِیْنَ ﴿١٥٣﴾ مَاۤ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۚ فَاْتِ بِاٰیَةٍ

له جادو زپلو خلقو نه | نۀ یې ته | مګر | انسان | په شان زمونږ | پس راوړه | څۀ نخښه

عنټ جادو شوے دے . ته خو زمونږ په شان یو انسان یې . نو څۀ معجزه راوړه که ته

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ

که چرې ته یې | له رښتیا ویونکو نه | ده ووئیل | دا | اوښه ده | د دې | د اوبو څښلو (وارګۍ)

(په دے د عوی کښې) رښتینے یې ؟ (صالح) وفرمائیل دا یوه اوښه ده چه یوه ورځ د اوبو څښلو وار د دې

وَّلَكُمْ شِرْبُ یَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَیَاْخُذَكُمْ

او تاسو ته د پاره (هم) | د اوبو څښلو وار دے | د ورځې | مقرره | او مۀ رسوئ دې ته | څۀ تکلیف | پس ونبه نیسی تاسو

دے او د یوے ټاکلې ورځې یو وار تاسو د پاره مقرر دے او دې اوښې ته تکلیف مۀ ورکوئ کنې تاسو به د یوے

عَذَابُ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوْهَا فَاَصْبَحُوْا نٰدِمِیْنَ ﴿١٥٧﴾

عذاب | د ورځې | لوئے | پس په بنېو وُوهله دوی هغه | پس شول دوی | پښېمانه

درنے ورځې عذاب ونیسی . خو هغوئ د اوښې پښې پرې کړے نو بیا په خپلو کړو پښېمانه شول

فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

بیا ونیول دوی | عذاب | بېشکه | په دے کښې | نخښه ده (د قدرت) | او نۀ وو | اکثر له دوی نه

بیا دوی عذاب راونیول . یقیناً په دے واقعه کښې نخښه د عبرت ده . او په دوی کښې اکثر خلق ایمان نۀ

ع ٨ ١٩ ١٢

مُؤْمِنِيْنَ ﴿١٥٨﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ ِۨ

ایمان راوړونکي | او بیشکه | ستارب | هم دے | غالب | مهربان | دروغجن وګڼړل | قوم | دَ لوط

راوړي . او بیشکه چه ستارب زبردست دے مهربان دے . دَ لوط قوم هم خپل پیغمبران دروغجن

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٦٠﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ لُوْطٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٦١﴾ اِنِّيْ

پیغمبران | هرکله چه ووئیل | دوی ته | ورور دَ دوی | لوط | آیا نه ویریږئ تاسو | بیشکه زه

وګڼړل . څه وخت چه دَ دوی ورور لوط دوی ته ووئیل چه آیا تاسو (دَ الله تعالیٰ نه) نه ویریږئ؟ زه ستاسو

لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ

تاسو دَپاره | پیغمبر | امانتدار یم | پس ویریږئ | دَ الله نه | او حکم منئ زما | او زه نه غواړم له تاسو نه

په حقله امانتګر پیغمبر یم . نو تاسو دَ الله تعالیٰ نه ویریږئ او زما خبره منئ او زه له تاسو نه په دَے

عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٤﴾ اَتَاْتُوْنَ

په دَے (تبلیغ) | څه اجر | نه دے | زما اجر | مګر | په پروردګار | دَ عالمونو | آیا تاسو راځئ

(تبلیغ) څه بدله خو نه غواړم . زما بدله خو دَ رب العالمین په ذمه ده . آیا په ټوله دُنیا کښې یواز

الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ

سړو ته | له اهل عالمونه | او پریږدئ | هغه څه | چه پیدا کړل | تاسو دَپاره | ستاسو رب

تاسو (دَ ګناه خلق یئ چه) دَ هلکانو سره بدفعلي کوئ؟ او ستاسو رب چه تاسو له کومے ښځے پیدا کړي دي، هغه

مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰلُوْطُ

له ښځو ستاسو نه | بلکه تاسو یئ | خلق | له حد نه تیریدونکي | دوی ووئیل | که چرته منع نه شوے | اے لوطه!

تاسو پریږدئ ، تاسو خو دَ حد نه تیر شوی خلق یئ . هغوی ورته ووئیل چه اے لوطه! که ته دَ خپلو خبرو

لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ اِنِّيْ لِعَمَلِكُمْ مِّنَ الْقَالِيْنَ ﴿١٦٨﴾

نو خامخا به شے ته | له ویستلے شوو نه | ده ووئیل | بیشکه زه | ستاسو دَ عمل نه | ویزاره یم

نه منع نه شوے نو دَ وطن نه به بهر ویستلے شے . (لوط) وفرمائیل بیشکه زه ستاسو دَ عملونو نه نفرت کوم .

رَبِّ نَجِّنِيْ وَاَهْلِيْ مِمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيْنٰهُ

اے زما ربه! | نجات راکړه ما ته | او زما کوروالو ته | له هغه څه نه | چه دوی ئے کوی | پس مونږ نجات ورکړو ده ته

اے زما ربه! ما او زما خاندان دَدے خلقو دَ عملونو (دَ وبال) نه وساته ، پس مونږ دے او دَ ده ټول

وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٧٠﴾ اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا

او دَ ده دَ کور ټولو خلقو ته | سیوا دَ یوے بوډۍ ښځے نه | چه وه له باقي پاتے کیدونکو نه | بیا | هلاک کړل مونږ

خاندان بچ کړو . خو بس یوه بوډۍ چه په وروستو پاتے کیدونکو کښې پاتے شوه ، بیا مونږ نور ټول تباه

الْاٰخَرِيْنَ ﴿١٧٢﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿١٧٣﴾

هغه نور | او مونږ ووروله | په دوی باندي | (یو قسم) باران | پس بد دے | باران | دَ ویرول شوو .

کړل . او په هغوی مو یو خاص قسم باران ووروو نو څومره خراب باران وو په هغه خلقو چه دَ عذاب ویرول شوي وو

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۷۴﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ

بیشکہ | پہ دے کښے | نخښہ دہ | او نہ | وو | اکثر لہ دوی نہ | ایمان راوړونکی | او بیشکہ هم ستا رب | غالب

بیشکہ پہ دے واقعہ کښے نښان (دَعبرت) دے او پہ دوی کښے اکثر خلق ایمان نہ راوړی . او بیشکہ چہ ستا رب دے مہربان

الرَّحِيمُ ﴿۱۷۵﴾ كَذَّبَ أَصْحَابُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۷۶﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ

مہربان دے | دروغ وګڼړل | دَ بنړ وُسیدونکو | پیغمبران | هرکلہ چہ ووئیل | دوی تہ | شعیبؑ

دے . دَ بنړ خاوندانو خپل پیغمبران دروغژن وُګڼړل ، څہ وخت چہ شعیبؑ دوی تہ ووئیل چہ

أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۷۷﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿۱۷۸﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ

آیا نہ ویریږئ تاسو | بیشکہ زۀ | تاسو دَ پارہ | پیغمبر | امانت داریم | پس ویریږئ | دَ اللہ نہ

آیا تاسو (دَ اللہ تعالیٰ نہ) نہ ویریږئ . زۀ تاسو دَ پارہ امانت دار پیغمبریم . نو دَ اللہ تعالیٰ نہ ویرہ کوئ

وَأَطِيعُونِ ﴿۱۷۹﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا

او زما حکم منئ | او زۀ نہ غواړم لہ تاسو نہ | پہ دے (تبلیغ) | څۀ بدلہ | نۀ دہ زما بدلہ | مګر

او زما خبرہ منئ . او زۀ تاسو نہ پہ دے کارهیڅ بدلہ نۀ غواړم . زما بدلہ خو بس یوازے دَ رب العالمین

عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۸۰﴾ أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ﴿۱۸۱﴾

پہ رب | دَ عالمونو | پورہ کوئ | ناپ | او مۀ کیږئ | لہ نقصان ورکوونکو نہ

پہ ذمہ دہ . تاسو پیمانہ پورہ پورہ ورکوئ او خلقو تہ نقصان مۀ ورکوئ .

وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿۱۸۲﴾ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ

او تول کوئ | پہ تلے | سمے سرہ | او کم مۀ ورکوئ | خلقو تہ | څیزونہ دَ هغوی

او پہ سمہ روغہ تلہ باندې تول کوئ . او خلقو تہ دَ هغوی پہ څیزونو کښے تاوانونہ مۀ ورکوئ

وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۱۸۳﴾ وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ

او مۀ ګرځئ | پہ زمکہ کښے | فساد کوونکی | او وویریږئ | دَ هغہ چا نہ چہ | پیدا ئے کړئ تاسو

او پہ ملک کښے فسادونہ مۀ خوروئ . او دَ هغہ ذات نہ وویریږئ چہ تاسو او تاسو نہ

وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۸۴﴾ قَالُوا إِنَّمَا أَنتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿۱۸۵﴾ وَمَا أَنتَ

او مخلوقات | مخکنی | دوی ووئیل | بیشکہ تۀ ئے | لہ جادو زپلو خلقو نہ | او نۀ ئے تۀ

مخکنی مخلوقات ئے پیدا کړی دی ، هغوی ورتہ ووئیل چہ پہ تا خو چا جادو کړے دے او تۀ خو بس

إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿۱۸۶﴾ فَأَسْقِطْ

مګر | انسان | پہ شان زمونږ | او بیشکہ | مونږ خیال کوو پہ تا | لہ دروغژنو نہ | پس راوُغورزوہ

زمونږ پہ شان انسان یئے . او زمونږ دا خیال دے چہ تۀ دروغژن یئے . نو کہ تۀ رښتینے

عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿۱۸۷﴾

پہ مونږ باندې | یوہ ټکړہ | لہ آسمان نہ | کۀ چرے تۀ یئے | لہ رښتینو نہ

یئے نو پہ مونږ باندې دَ آسمان نہ یوہ ټوټہ راوُغورزوہ .

قَالَ رَبِّيٓ اَعۡلَمُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوۡهُ فَاَخَذَهُمۡ

پس وپیول دوی | نو دوی دروغژن وګڼلو هغه | چه تاسو یئ کوئ | په هغه څه | ښه پوهه دے | زما رب | ده وویل

شعیبؑ وفرمایل چه زما رب ته ستاسو عملونه په ښه شان معلوم دی، خو هغوی شعیبؑ دروغژن وګڼلو نو د سایوان

عَذَابُ يَوۡمِ الظُّلَّةِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿١٨٩﴾

عذاب | د ورځے | د سورې | بیشکه هغه | وو | عذاب | د ورځے | لویے

د ورځے عذاب راګیر کړل. بیشکه چه دغه د عذاب ډیره سخته ورځ ده.

اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٩٠﴾

بیشکه | په دے کښے | نخښه (د قدرت) ده | او نه | وو | اکثر له دوی نه | ایمان راوړونکی.

بیشکه په دے واقعه کښے هم (خلقو د پاره) نخښه د عبرت ده، مګر په دوی کښے اکثر خلق ایمان راوړونکی نه دی

وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الرَّحِيۡمُ ﴿١٩١﴾ وَاِنَّهٗ لَتَنۡزِيۡلُ ع ١٦ ١٤

او بیشکه | ستا رب | هم دے دے | غالب | مهربان | او بیشکه دا (قرآن) | نازل کړے شوے دے

او بیشکه هم ستا رب غالب (او) مهربان دے. او دا قرآن د رب العلمین رالیږلے

رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ الرُّوۡحُ الۡاَمِيۡنُ ﴿١٩٣﴾ عَلٰى قَلۡبِكَ

د ټولو جهانونو د رب | نازل کړے دے | دا | روح الامین (جبرائیل) | ستا په زړه باندې

پیغام دے. دا روح الامین (جبرائیل) راوړے نازل کړے دے. ستا په زړه (ئے نازل کړے دے)

لِتَكُوۡنَ مِنَ الۡمُنۡذِرِيۡنَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيۡنٍ ﴿١٩٥﴾ وَاِنَّهٗ

د پاره د دے چه شے ته | له ویروونکو نه | په ژبه | د عربۍ | چه واضحه ده | او بیشکه دا

چه ته (د دے په ذریعه) خلق د (الله د) عذابه وویرے، دا په واضحه عربۍ ژبه کښے دے. او د دے ذکر د

لَفِيۡ زُبُرِ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿١٩٦﴾ اَوَلَمۡ يَكُنۡ لَّهُمۡ اٰيَةً اَنۡ يَّعۡلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا

په وړومبنو کتابونو کښے دے | آیا نشته دے | دوی د پاره | نخښه | چه پیژنی دا | عالمان

مخکنو امتونو په کتابونو کښے راغلے دے. آیا د دے خلقو له دا خبره (کافی) دلیل نه دے چه (د دے کتاب حقیقت) د

بَنِيۡٓ اِسۡرَآءِيۡلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوۡ نَزَّلۡنٰهُ عَلٰى بَعۡضِ الۡاَعۡجَمِيۡنَ ﴿١٩٨﴾

د بنی اسرائیلو | او که چیرے مونږ نازل کړے وے دا | په ځنو | عجمیانو

بنی اسرائیلو عالمانو ته معلوم دے؟ او که دا (کتاب) مونږ په یو عجمی باندے رانازل کړے وے، او بیا

فَقَرَاَهٗ عَلَيۡهِمۡ مَّا كَانُوۡا بِهٖ مُؤۡمِنِيۡنَ ﴿١٩٩﴾ كَذٰلِكَ سَلَكۡنٰهُ

بیا هغه لوستلے دا | په دوی باندے | نو (هم) به نه وُو دوی | په دے | ایمان راوړونکی | دغه شان | اچولے ده مونږ دا خبره

هغه د دوی په وړاندې لوستلے هم وے نو دوی به منلے نه وو. دغه شان مونږ دا (عناد او انکار)

فِيۡ قُلُوۡبِ الۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ حَتّٰى يَرَوُا الۡعَذَابَ

په زړونو کښے | د مجرمانو | دوی ایمان نه راوړی | په دے (قرآن) | ترڅو چه | دوی وویني | عذاب

د مجرمانو په زړونو کښے اچولے دے. دوی به په دے ایمان نه راوړی تر دے چه دردناک عذاب په خپلو

الْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا هَلْ

دردناک | هغه به راشي دوی باندې | ناڅاپه | او دوی به | بې خبره وي | بيا به دوی ووائي | آيا

سخت دردناک عذاب. (۲۰۱) نو هغه عذاب به په پوره ناڅاپي راشي او دوی به ترې نه خبر هم نه وي، نو هغه ساعت به ووائي

نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَأَيْتَ إِن مَّتَّعْنَاهُمْ

مونږ ته به مهلت راکړے شي | پس آيا دوی زمونږ عذاب | زر غواړي | آيا تا نه دي ليدلي؟ | که چرته مونږ دوی ته فائده ورکړو

چه آيا مونږ له به مهلت راکړے شي؟ نو آيا دوی زمونږ عذاب زر غواړي؟ هيڅ ته دا وايه چه که مونږ يو څو کاله دوی په

سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَاءَهُم مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا

ډير کلونه | بيا راشي په دوی باندې | هغه عذاب | د کوم چه دوی سره وعده کولے شي | نو په کار به رانه شي | د دوی | هغه

عيش معاش کښې ګوساتو، او بيا پرے هغه عذاب راشي چه د کوم وعده ورسره شوې وي، نو د دوی هغه عيش معاش د

كَانُوا يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَا أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾

د کوم نه چه دوی فائده اخستله | او نه دے هلاک کړے مونږ | هيڅ کلے | مګر | د هغې د پاره | ويرونکي (پيغمبرانو ليږلي) وو

څه کار شو؟ او مونږ چه کوم کلي تباه کړي دي نو په هغې کښې (اول) ويرونکي راغلي وو.

ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيَاطِينُ ﴿٢١٠﴾

ع ٩

نصيحت د پاره | او مونږ ظالمان نه وو | او نه دے | بنکته راوړے | دا (قرآن) | شيطانانو.

د نصيحت د پاره او مونږ په چا ظلم نه کوو او دا قرآن شيطانانو نه دے راوړے.

وَمَا يَنبَغِي لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ

او نه دي مناسب | دوی د پاره | او نه | دوی کولے شو | بيشکه دوی | د آوريدو نه

او دا د هغوی د پاره مناسب هم نه دی او نه دا د هغوی د وس کار دے. هغوی د (پاکيزه کلام) د اوريدلو نه ډرته

لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَكُونَ

لرے ساتلي شوي دي | پس مه | بله | د الله سره | معبود بل | پس شے به ته

هم محروم دي. نو ته د الله تعالی سره د بل معبود بلنه مه کوه ګني تاله به عذاب

مِنَ الْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَاخْفِضْ

له عذاب ورکړي شوو نه | او ووېروه | خپل رشته دار | نژدے | او ښکته کړه

ورکړے شي، او نژدے خپل خپلوان (د عذاب نه) ووېروه، او هغه مؤمنانو ته

جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ فَإِن عَصَوْكَ فَقُلْ

وزر خپل | د پاره د هغه چا چه | پيروي کوي ستا | له مؤمنانو نه | پس که چرے | دوی نافرماني وکړه ستا | نو ووايه

خپل وزر ښکته ساته چه ستا په قدم پسے روان وي. او که دا خلق ستا خبره نه مني نو ورته ووايه

إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾

بيشکه زه ويزار يم | له هغه څه نه | چه تاسو کوئ | او توکل وکړه | په غالب | مهربان

چه زه ستاسو د کارونو نه لاس په سر يم. او په قادر او مهربان الله باندې بادس ساته.

الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ إِنَّهُ
هغه ذات چه | وینی تا | هر کله چه | ته پاسې | او گرځیدل ستا | په سجده کوونکو کښې | بیشکه
چه تا گوری هر کله چه ته (مونځ د پاره) ودریږې او په مونځ گزارو کښې ستا ښکته پورته کیدل هم (وینی)، هغه

هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ ﴿٢٢١﴾
هغه | آوریدونکے | پوهه دے | آیا | زهٔ تاسو ته وښایم | چه په چا باندې | نازلیږی | شیطانان
ډیر ښهٔ آوریدونکے په هر څهٔ پوهه دے. آیا زهٔ تاسو ته وښایم چه شیطانان په چا باندې راکوزیږی

تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ
نازلیږی | په هر یو | دروغژن | گناهگار | دوی غوږ ږدی | آوریدو ته | او اکثر له دوی نه
هغوی په هر دروغژن بدکار باندې راکوزیږی، چه هغوی د خبرے ته غوږ ږدی او دا سے خلق اکثر

كَاذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾ وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ
دروغژن دی | او شاعران چه دی | پیروی کوی د دوی | گمراهان | ایا تا نهٔ دی کتلی | چه دوی | په هر یو میدان کښې
دروغژن وی، او پاتے شول شاعران نو د هغوی په لاره خو گمراه خلق روان وی، ایا تا ته معلومه نهٔ دهٔ چه هغوی

يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا
سرگردانه گرځی | او دا چه دوی | وائی | هغه څهٔ چه | کوی ئے نهٔ | مگر هغه خلق | چه ایمان ئے راوړو
په هر میدان کښې سر وهلی بروهلی گرځی، او هغه څهٔ وائی چه په خپله پرے عمل نهٔ کوی، سیوا د هغو خلقو نه چه ایمان ئے

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا
او عمل ئے وکړو | نیک | او یاد ئے کړو | الله | ډیر | او انتقام ئے واخستو | پس له دے نه چه ظلم وشو په دوی
راوړے دے او ښهٔ ښهٔ کارونه کوی او الله ډیر یادوی — او هر کله چه په هغوی ظلم وکړے شی نو پس له هغے نه خپل بدله

وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾ ع ١١ ٢٢ ١٥
او زر به پوهه شی | هغه خلق | کوم چه ظلم ئے وکړو | چه کوم ځائے ته به | بیرته واگرځی دوی
واخلی، ظالمانو ته به ډیر زر معلومه شی چه هغوی د عذاب کوم (خراب) ځائے ته واپس تلونکی دی

سُورَةُ النَّمْلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ | تِسْعُونَ آيَةً وَّسَبْعُ رُكُوعَاتٍ
سورۃ نمل په مکه کښې نازل شوا او په | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښې ۹۳ آیتونه او ۷ رکوع گانې دی
د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

طسٓ ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿١﴾ هُدًى
طٰس | دا | آیتونه دی | د قرآن | او د کتاب | واضحه | هدایت
طٰس دا د قرآن او روښانه کتاب آیتونه دی۔ مؤمنانو د پاره

وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ
او زیرے دے | د پاره د مؤمنانو | کوم خلق چه | قائم ساتی | مونځ | او ورکوی
هدایت او زیرے دے، هغه کوم چه د مونځ پابندی کوی، او زکوٰة

الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

زکوٰة | او دوی | په آخرت | یقین لری | بیشکه | کوم خلق چه

ورکوی ، او په آخرت باندې پوخ یقین ساتي. کوم خلق چه په

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٤﴾

یقین نهٔ لری | په آخرت | ښائسته کړل مونږ | دوی ته | دَ دوی عملونه | پس دوی | سرګردانه ګرځی

آخرت ایمان نهٔ لری. نو مونږ د خلقو ته خپل (بد) عملونه ښائسته ښکاره کړی دی نو هغوئ سرو هلی پروهلی

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

دا خلق | هغه کسان دی چه | دوی لپاره | خراب | عذاب دے | او دوی | په آخرت کښې

ګرځي، هم دا خلق دی چه دوی دَ پاره سخت عذاب مقرر دے او هم دوئ به په آخرت کښې دَ ټولو نه

هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ﴿٥﴾ وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ

ډیر زیات نقصان مومونکی دی | او بیشکه ته | درکولے شی تا ته | دا قرآن | له طرفه

زیات تاوانیان دی. او تا ته قرآن دَ حکیم او علیم ذات دَ طرف نه

حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ﴿٦﴾ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا

دَ حکیم | دانا | هر کله چه ووئیل | موسیٰ | خپل کور والو ته | بیشکه ما | لیدلے دے | یو اور

درکولے شی. هر کله چه موسیٰ دَ خپل کور خلقو ته ووئیل چه ما یو اور لیدلے دے

سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ

زهٔ اوس راوړم تاسو ته | له هغې نه | څهٔ خبر | یا راوړم تاسو ته | سکروټه | بَلَه | دَ پاره دَ چه تاسو

زهٔ به زر تاسو ته دَ هغه ځائے نه څهٔ خبر راوړم یا به یوه بَلَه سکروټه راوړم چه تاسو ترے نه ګرمی حاصله

تَصْطَلُوْنَ ﴿٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهَا نُوْدِيَ اَنْۢ بُوْرِكَ مَنْ

ګرمی حاصله کړئ | پس هر کله چه | راغے هغې ته | نو دهٔ ته آواز وکړے شو | چه مبارک دے | هغه څوک چه

کړئ. نو څهٔ وخت چه موسیٰ هلته ورسید و نو آواز ورته وشو چه کوم (فرښته) اور کښې دننه دی هغه هم

فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨﴾

په اور کښې دے | او څوک چه | ګیر چاپیره دَ دهٔ دے | او پاک دے | الله | پروردګار دَ عالمونو

برکتی دی او کوم چه دَ هغهٔ ګیر چاپیره دی هغه هم مبارک دی. او الله تعالیٰ پاک دے چه دَ ټولو مخلوقاتو پالونکے دے

يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٩﴾ وَاَلْقِ

اے موسیٰ! | بیشکه | زهٔ | الله | غالب | خاوند دَ حکمت یم | او وغورزوه

اے موسیٰ! یقیناً هم زهٔ حقیقی معبود یم غالب او دَ حکمتونو خاوند. او ته خپل امسا

عَصَاكَ ۭ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا

خپله امسا | پس هر کله چه | وُلیدلهٔ دهٔ هغه | چه هغه حرکت کوی | لکه چه هغه | مار دے | نو مخ واړولو دهٔ | شا ګرځونکے

وغورزوه. نو څهٔ وخت چه موسیٰ وکتل چه هغه داسے خوزی لکه چه مار وی. نو مخ په شا منډه کړه

وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۫ اِنِّىْ لَا يَخَافُ لَدَىَّ الْمُرْسَلُوْنَ ⑩

او بیرته را ونه گرځېدو | اے موسیٰؑ | مه ویرېږه | بیشکه | نه ویرېږي | په نزد زما | پیغمبران

او وروستو ئې ونه کتل (مونږ اواز ورکړو چه) اے موسیٰ! ته مه ویرېږه، زما په نزد پیغمبران نه ویرېږي،

اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا ۢ بَعْدَ سُوْٓءٍ فَاِنِّىْ غَفُوْرٌ

مگر | چا چه ظلم وکړو | بیا ئې هغه بدل کړو | په نیکئ سره | پس | له بدئ نه | پس بیشکه زه | بخښونکے

البته چا چه څه ظلم کړے وي، بیا د بدئ په ځائے نیک کار ونه وکړي نو زه بخښونکے مهربان

رَّحِيْمٌ ⑪ وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِىْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ

مهربان یم | او دننه یوسه | خپل لاس | په خپل گریوان کښے | هغه به راوځي | سپین شوے

یم. او ته خپل لاس گریوان ته ورننباسه تک سپین به راوځي

مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۫ فِىْ تِسْعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا

بے له عیب نه | په نهو نخښو کښے | طرف د فرعون | او د هغه قوم ته | بیشکه دوي | ؤد

بغیر د څه عیب نه، دا په هغه نهو معجزو کښے دي چه فرعون او د هغه د قوم د پاره دي ځکه چه هغوئ د حد نه

قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ⑫ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ اٰيٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ

خلق نافرمانه | پس هرکله چه | راغلے دوي ته | زمونږ نخښے | روښانه | دوي وویل | دا | جادو دے

وړاندې تیرېدونکي خلق دي، نو څه وخت چه فرعونیانو ته زمونږ روښانه معجزے راورسیدے نو هغوئ وویل چه دا ښکاره

مُّبِيْنٌ ⑬ وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ؕ

ښکاره | او دوي انکار وکړو | له هغے نه | او یقین کړے وو په هغے | زړونو د دوي | په ظلم | او تکبر سره

جادو دے، او د ظلم او د کبر په وجه د هغے نه منکر شول سره د دے چه په زړونو کښے ئې پرے یقین راغلے وو

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ⑭ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ

پس وگوره | چه څنگه | شو | انجام | د فساد کوونکو | او بیشکه | ورکړے ؤ مونږ | داؤد

نو ته وگوره چه د دغه مفسدانو انجام څه شو ؟ او مونږ داؤد او سلیمان علیهما السلام

وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ فَضَّلَنَا

او سلیمان ته | علم | او هغوي دواړو وویل | ټول تعریفونه | الله د پاره دي | هغه کوم چه | فضیلت را کړو مونږ ته

ته ډیر لوئے، علم ورکړو. او هغوي دواړو وویل چه ټول تعریفونه الله تعالیٰ لره دي چه مونږه ئې د خپلو ډیرو

عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ⑮ وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ

په ډیرو باندې | له خپلو مؤمنانو بندگانو نه | او وارث شو | سلیمان | د داؤد

مؤمنانو بندگانو نه افضل کړي یو او سلیمانؑ د داؤدؑ وارث شو،

وَقَالَ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا

او هغه وویل | اے خلقو! | ښودلے شوه مونږ ته | ویینا | د مارغانو | او راکړے شو مونږ ته

او دائے وویل چه اے خلقو! مونږ ته د مارغانو ژبه ښودلے شوے ده، او مونږ ته هرقسم

ع ۱۶

مِنْ كُلِّ شَیْءٍ ؕ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِیْنُ ﴿١٦﴾ وَحُشِرَ

له هر یو څیز نه | بیشکه دا | فضل دے | ښکاره | او جمع کړے شوے

څیزونه راکړے شوی دی ، واقعی چه هم دا هغه ښکاره فضل دے . او سلیمان د پاره د

لِسُلَیْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالطَّیْرِ فَهُمْ یُوْزَعُوْنَ ﴿١٧﴾

سلیمان د پاره | د ده لښکرے | له پیریانو | او بنیادمو | او مارغانو نه | پس دوی به | ودرولے شول .

پیریانو ، بنیادمو او مارغانو لښکرے راجمع کړے شوے او دوی به (د انتظام د پاره) ځائے په ځائے ودرولے

حَتّٰۤی اِذَاۤ اَتَوْا عَلٰی وَادِ النَّمْلِ ۙ قَالَتْ نَمْلَةٌ یّٰۤاَیُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا

تر دے چه | هر کله دوی راغلل | یو میدان ته | د میږو | نو وویل یو میږی | اے میږو ! | تاسو ننوځئ

راودرولے شوے تر دے چه هغوی د میږو یو میدان ته ورسیدل نو یو میږی ووئیل چه اے میږو ! خپلو خپلو غارو ته

مَسٰكِنَكُمْ ۚ لَا یَحْطِمَنَّكُمْ سُلَیْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ﴿١٨﴾ فَتَبَسَّمَ

خپلو کورونو ته | چخړی نه کړی تاسو | سلیمان | او د ده لښکرے | او دوی | خبرهم نه وی | نو د ے مسکے شو

ورننوځئ ، هسے نه چه سلیمان او د هغه لښکرے مو په بے خبرئ کښے چخړی کړی ، نو سلیمان د هغے په

ضَاحِكًا مِّنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِیْۤ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِیْۤ

خندیدونکے | په خبره د هغے | او ده ووئیل | اے زما ربه ! | ماله توفیق راکړه | چه زه شکر وکړم | ستا د هغه نعمت | کوم چه

خبره په موسکا وخندل ، او دائے ووئیل چه اے زما ربه ! ما همیشه په دا سے حال کښے وساتے چه ستا د هغه انعامونو

اَنْعَمْتَ عَلَیَّ وَعَلٰی وَالِدَیَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَدْخِلْنِیْ

تا انعام کړے دے | په ما | او زما په پلار او مور باندے | او چه زه عمل وکړم | نیک | چه ته خوشحالیږے په هغے | او داخل کړه ما

شکر ادا کړم چه تا ما ته او زما پلار او مور ته ورکړی دی او چه داسے نیکی وکړم چه ته پرے خوشحالیږے او ما په خپل

بِرَحْمَتِكَ فِیْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿١٩﴾ وَتَفَقَّدَ الطَّیْرَ فَقَالَ

په خپل رحمت سره | په خپلو بندګانو کښے | چه نیکان دی | او ده حاضری واخسته | د مارغانو | نو ده ووئیل

رحمت سره په خپلو نیکانو بندګانو کښے شامل کړے ! او سلیمان د مارغانو حاضری واخسته نو دے ووئیل

مَا لِیَ لَاۤ اَرَی الْهُدْهُدَ ۫ۖ اَمْ كَانَ مِنَ الْغَآئِبِیْنَ ﴿٢٠﴾ لَاُعَذِّبَنَّهٗ

څه (خبره) ده | چه زه نه وینم | هدهد | یا هغه دے | غائب | زه به خامخا ده ته عذاب ورکړم

چه دا څه خبره ده چه زه هدهد نه وینم یا هغه چرته غائب شوے دے ؟ زه به ورله ډیره سخته

عَذَابًا شَدِیْدًا اَوْ لَاَاذْبَحَنَّهٗۤ اَوْ لَیَاْتِیَنِّیْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿٢١﴾

عذاب | سخت | یا به ذبح کړم دے | یا به دے راوړی ما ته | څه دلیل | ښکاره

سزا ورکړم ، یا به ئے حلال کړم او یا به ماته (د خپلے غیرحاضرئ) کلک دلیل پیش کړی

فَمَكَثَ غَیْرَ بَعِیْدٍ فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ

نو ده درنګ تیر کړو | لږ شان | پس دے ووئیل | ما احاطه کړے ده | په هغه څه | چه احاطه نه ده کړے تا په هغے | او ما راوړے تا ته

نو لږ ساعت تیر نه وو چه هغه راغلو نو دائے ووئیل چه ما یو داسے خبره معلومه کړے ده چه تاسو هغه معلومه نه ده او ما درته د

مِنْ سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾ إِنِّي وَجَدْتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ

دَ سبا نه | خبر | یقیني | بیشکه ما | بیا مونده له | یوه ښځه | چه بادشاهي کوي په دوي

سبا (دَ قبیلې) نه یو یقیني خبر راوړے دے . مایوه ښځه وُلیده چه په هغوئ باندې حکومت کوي

وَأُوتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَجَدْتُهَا وَقَوْمَهَا

او ورکړے شوے دے دې ته | هر یو څیز | او دَ دے | تخت دے | ډیر لوئے | ما بیا مونده له دا | او دَ دے قوم

او هغې ته هر قسم اسباب ورکړے شوے دي او دَ هغې (دَ ناستې) تخت ډیر لوئے دے . ما هغه او دَ هغې قوم وُلیدل لوچه

يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ

چه سجده کوي | نمر ته | سیوا دَ الله نه | او ښائسته کړي دي | دوي دَ پاره | شیطان

دَ الله تعالیٰ نه بغیر نمر ته سجدے کوي ، او شیطان دَ هغوئ دا عملونه دَ هغوئ په نظر ښکلي

أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٢٤﴾ أَلَّا يَسْجُدُوا

عملونه دَ دوي | پس هغه منع کړي دي دوي | دَ (حق) لارے نه | پس دوي | لاره نه موندي | چه دوي سجده نه کوي

ښائسته ښکاره کړي دي، نو دَ سمے لارے نه ئے منع کړي دي نو اوس په حقه لار نه ځي، هغه دا چه الله تعالیٰ ته

لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ

هغه الله ته | کوم چه | ښکاره کوي | هر پټه خبره | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | او پوهیږي | په هغه څه چه پټوئ تاسو

سجدے نه کوي چه دَ آسمان او دَ زمکے پټ څیزونه بهر ته راوباسي . او څه چه تاسو پټوئ او څه چه

وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٢٦﴾

او په هغه څه چه ښکاره کوئ ئے تاسو | الله | نشته دَ هیڅ معبود | بے له دهٔ نه | چه رب دے | دَ عرش | لوئے

ښکاره کوئ په هغې ټولو خبردے (داورئ!) هم الله تعالیٰ هغه ذات دے کوم نه سیوا بل معبود نشته هم دے دَ عرش عظیم رب دے.

قَالَ سَنَنْظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾ اذْهَبْ

وُئے فرمائیل | ډیر زر به وُګورو | چه آیا رښتیا دے وئیل تا | یا ته یئے | له دروغ ویونکو نه | ته لاړ شه

سلیمان وئیل چه مونږ به دَ دے خبرے تحقیق کوو چه ته رښتیا وائے که دروغژن یئے . ته لاړ شه او زما دا

بِكِتَابِي هَٰذَا فَأَلْقِهْ إِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَاذَا

زما دے خط سره | بیا وُ غورزوه دا | دَ هغوئ طرف ته | بیا مخ راوګرځوه | له هغوئ نه | بیا وګوره | چه څهٔ

خط یوسه نو هغوئ ته ئے وُغورزوه بیا ترے نه یوا ړخ ته شه نو ګوره چه هغوئ څهٔ جواب

يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَابٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾

جواب درکوي هغوئ | وویئل دے | اے جرګے دَ سردارانو ! | بیشکه راوُغورزولے شو | ما ته | یو خط | عزت والا

درکوي . (چه خط ورته ملاؤ شو نو ملکه سبا) وویئل چه اے زما د لبارېانو ! ما ته خو یو درونډ خط راغورزولے شوے دے

إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾

بیشکه دا | له طرفه دَ سلیمان نه دے | او بیشکه دا خط | شروع په نامه | دَ الله دے | چه بخښونکے | مهربان دے.

دا دَ سلیمان دَ طرف نه دے او دا ئے لیکلي دي چه بسم الله الرحمٰن الرحیم .

ع ٢ / ١٧

أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي

چه تاسو سرکشي مه کوئ | زما خلاف | او راشئ ماته | مسلمانان شوي | وئے وئیل | اے دلبار یانو! | ماته رائے راکړئ

تاسو زما په مقابله کښے سرکشي مه کوئ او تابع راته راحاضر شئ، هغے ووئیل چه اے زما دلبار یانو! ماله په دے معامله

فِي أَمْرِي مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾ قَالُوا

زما په دے کار کښے | نه یم زه | فیصله کوونکے | د هیڅ کار | تر دے چه | تاسو موجود یئ | دوی ووئیل

کښے رائے راکړئ، زه د هیڅ خبرے خلاصه فیصله تر هغے پورے نه کوم چه تاسو په کښے موجود نه یئ. هغوی ووئیل

نَحْنُ أُولُو قُوَّةٍ وَأُولُو بَأْسٍ شَدِيدٍ وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ فَانظُرِي

موږ | ډیر طاقتور یو | او خاوندان د جنګ یو | سخت | او ټول اختیار | ستا دے | پس ته غور وکړه

چه موږ ډیر زور آور او توریالي خلق یو، او ټول اختیار ستا دے نو ته په خپله وګوره چه

مَاذَا تَأْمُرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا

د څه څیز | حکم ته فرمائې؟ | هغے ووئیل | بیشکه بادشاهان | چه هر کله داخلیږي | یو کلي ته | نو خرابوي د هغه کلے

موږ ته څه حکم راکول غواړے؟ هغے ووئیل چه بادشاهان چه څه وخت یو کلي ته ورننوځي نو هغه تباه کوي

وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ

او کوي | د دے معتبر خلق | زیات رسوا | او همدغه شان | دوی کوي | او بیشکه زه درلیږونکې یم

او د هغه ځائے په استوګنو کښے عزتمند خلق سپک کړي او دغه شان به هغوی هم کوي او زه ورته څه سوغات

إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا

طرف د هغوی ته | څه تحفه | بیا به ګورم | چه په څه څیز | بیرته راواپس کیږي | قاصدان | بیا هر کله چه

لیږم، نو ګورم چه زما سفیران څه (خبر) راوړي؟ نو څه وخت چه (د سبا)

جَاءَ سُلَيْمَانَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ خَيْرٌ

راغے (قاصد) | سلیمان ته | نو دے فرمائیل | آیا تاسو زما مدد کوئ | په مال سره | پس څه چه | راکړي دي ماته | الله | ډیر بهتر دي

سفیر سلیمانؑ ته ورغے نو هغه ورته ووئیل چه آیا تاسو په مال باندې زما امداد کول غواړئ؟ وا ورکړي الله چه مال ماله څه راکړي دے

مِّمَّا آتَاكُم ۚ بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ ﴿٣٦﴾ ارْجِعْ

له هغه څه نه | چه هغه درکړي دي تاسو ته | بلکه تاسو | په خپله تحفه | خوشحالیږئ | واپس لاړ شه

هغه د هغے نه ډیر بهتر دي کوم چه هغه تاسو ته درکړي دي بلکه هم تاسو په خپلو تحفو خوشحاله اوسئ، ته خپلو خلقو ته واپس

إِلَيْهِمْ فَلَنَأْتِيَنَّهُم بِجُنُودٍ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُم

هغوی ته | پس موږ به ضرور راولو په دوي | داسے لښکرسره | چه طاقت به نه وي | د دوي | د هغے | او موږ به ضرور وباسو دوی له دے

لاړ شه، موږ به ورپسے داسے فوځونه ورولیږو چه هغوی به ئے هیڅ مقابله ونه کړے شي او موږ به ئے د هغه ځائے نه

مِّنْهَا أَذِلَّةً وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴿٣٧﴾ قَالَ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَيُّكُمْ

له هغه ځائے نه | ذلیله شوي | او دوی به | سخت رسوا شي | (سلیمانؑ) ووئیل | اے سردارانو! | څوک له تاسو نه

په ذلت وباسو او هغوی به رسوا شي. (سلیمانؑ) وفرمائیل اے سردارانو! څوک به ماله د هغے

يَأْتِيْنِيْ بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ يَّأْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيْتٌ

به راوړی ماته | تخت د دے | وړاندې د دے نه چه | دوئ راشی ماته | مسلمانان شوی | دوویل | یو دیو

(ملکې) تخت د دے نه وړاندې راوړسوی چه هغوئ راله تابع راشی ؟ یو مضبوط پیری (ورته) وویل

مِّنَ الْجِنِّ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ مِنْ مَّقَامِكَ ۚ وَاِنِّيْ

له پیریانو نه | زه به راوړم تاته | هغه | وړاندې له دې نه | چه ته پاسې | له خپل ځائے نه | او بیشکه زه

چه زه به ئے درته د دربار د برخاست کیدو نه وړاندې راحاضر کړم ، او زه د دے

عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ اَمِيْنٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ الَّذِيْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِيْكَ

په دے باندې | ډیر طاقتور | امانت دار یم | دوویل | هغه کس چه هغه سره | علم وو | د کتاب | (چه) زه به راوړم تاته

کار طاقت لرم او امانت دار یم . یو بل سړی چه د کتاب په علم پوهه وو دوویل چه زه ئے د

بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ

هغه | وړاندې له دې نه | چه ورپسې ږدی | ستا طرف ته | ستا سترګے | پس هر کله چه | وئے لیدلو هغه | ایښودے شوے | خپل ځان سره

سترګو د رپولو نه وړاندې راحاضرولے شم . نو چه سلیمانؑ هغه تخت خپل ځان سره پروت ولیدلو

قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ ۖ لِيَبْلُوَنِيْٓ ءَاَشْكُرُ اَمْ اَكْفُرُ ۖ

نو وویل دا | دا دے | فضل | زما د رب | چه امتحان وکړی په ما | چه آیا شکر کوم زه | یا ناشکری کوم

نو وئے وویل چه دا زما د رب د فضل نتیجه ده چه وُم آزمائی چه زه شکر کوم که ناشکری کوم .

وَمَنْ شَكَرَ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ رَبِّيْ غَنِيٌّ

او څوک چه شکر کوی | پس بیشکه چه شکر کوی | خپل ځان د پاره | او څوک چه ناشکری وکړی | نو بیشکه | زما رب | ډیر بے نیازه

او څوک چه شکر کوی نو د خپل ځان ګټے له شکر کوی او څوک چه ناشکری کوی نو زما رب غنی دے

كَرِيْمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوْا لَهَا عَرْشَهَا نَنْظُرْ اَتَهْتَدِيْٓ اَمْ تَكُوْنُ

کریم دے | دوئ فرمایل | شکل بدل کړئ | دے د پاره | د دے د تخت | چه وګورو مونږ | آیا دا لاره بیا موی | یا کیږی دا

کریم دے ، سلیمانؑ وویل چه د دے د تخت شکل بدل کړئ چه وګورو چه هغه ئے پیژندے شی که په هغو (ناپوهه)

مِنَ الَّذِيْنَ لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿٤١﴾ فَلَمَّا جَآءَتْ قِيْلَ اَهٰكَذَا

د هغو خلقو نه چه | لاره نه بیا موی | پس هر کله چه | دا راغله | نو وویلے شو | آیا د غه شان دے

خلقو کښے ده چه څیز پیژندلے نه شی . نو کله وخت چه هغه (ملکه) راورسیده نو ورته وویلے شو چه آیا ستا تخت

عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَاَنَّهٗ هُوَ ۚ وَاُوْتِيْنَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا

تخت ستا | دے وویل | لکه چه دا هم هغه دی | او مونږ ته راکړے شوے دے | علم | وړاندې له دے نه | او مونږ یو

د غه شان دے ؟ هغے وویل ، لکه چه دا هم هغه دی او له دے نه وړاندې مونږ ته (ستا د صداقت) علم شوے وو او ستا تابع

مُسْلِمِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۖ اِنَّهَا كَانَتْ

مسلمانان | او منع کړے وه دا | هغه څیز | د کوم چه ئے عبادت کولو | سیوا | د الله نه | بیشکه دا | وه

شوی یو . او هغه ښځه د الله نه سیوا د نورو معبودانو عبادت د اسلام نه منع کړے وه ، هغه د یو کافر قوم

مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿٤٣﴾ قِيْلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ ۚ فَلَمَّا رَاَتْهُ حَسِبَتْهُ

له قوم | دَ كافرانو نه | دے ته وويلے شو | چه داخله شه | په دے محل كښے | پس كله چه | ئے وكتلو محل ته | نو گمان وكړو دے په هغے

نښته وه . دے ته وويلے شو چه دے محل ته داخله شه، هغه وخت چه دے (فرش) ته وكتل نو هغه ئے

لُجَّةً وَّكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ۚ قَالَ اِنَّهٗ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ ؕ

دَ ژورو اوبو | او څرگندے ئے كړے | پنڈے دواړه پنډۍ | ووئيل سليمانؑ | بيشكه دا يو محل دے | ښويه ونكے | جوړ شوے دَ شيشو نه

ژورے اوبه وګڼلے (يا ښځه ئے اوچته كړه) او خپلے پنډۍ ئے څرګندے كړے سليمانؑ ووئيل چه دا خو يو محل دے چه دَ شيشو نه جوړ كړے شوے

قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ وَاَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمٰنَ لِلّٰهِ

ووئيل (ملكے) | اے زما ربه! | بيشكه ما | ظلم وكړو | په خپل ځان | او اسلام مِ راوړو | دَ سليمان سره | دَ پاره دَ الله

دے ، هغے ووئيل چه اے زما ربه! ما تر اوسه په ځان ظلم كړے دے او اوس مِ دَ سليمانؑ سره په الله رب العٰلمين باندې

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا اِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا اَنِ اعْبُدُوا

چه رب دے | دَ ټول جهان | او بيشكه | مونږ ليږلے وو | (قوم دَ) ثمود طرف ته | دَ دوى ورور | صالحؑ | چه تاسو عبادت كوئ

ايمان راوړو . او مونږ ثمود نومِ قوم ته دَ هغوئ (قومى) ورور صالحؑ ليږلے وو چه تاسو دَ الله عبادت

اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ فَرِيْقٰنِ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ

دَ الله | پس ناگهانه | دوى دوه ډلے (شوے) | چه يو بل سره ئے جګړه كوله | ده ووئيل | اے زما قومه! | ولے تلوار كوئ تاسو

كوئ ، نو هغوئ دوه ډلے شول چه په خپل مينځ كښے جګړے كولے (صالحؑ) ووئيل اے زما قومه! تاسو ولے دَ نيكئ نه

بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ۚ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٦﴾

دَ بدئ دَ پاره | وړاندے له نيكئ نه | ولے بخښنه نه غواړئ | دَ الله نه | چه په تاسو | رحم وكړے شى .

نه وړاندے په عذاب راوستو باندې تلوار كوئ؟ تاسو دَ الله تعالىٰ نه معافى ولے نه غواړئ؟ چه الله تعالىٰ در باندې رحم وكړى

قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ ؕ قَالَ طٰٓئِرُكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ

دوئ ووئيل | مونږ سپيره وګڼلے | ته | او هغه خلق چه | تا سره دى | ده ووئيل | ستاسو سپيره توب | الله سره دے | بلكه تاسو

هغوئ جواب وركړو چه مونږ ته ته او ستا ملګرى سپيره ښكارى صالحؑ ووئيل ستاسو سپيره توب دَ الله طرف نه دے بلكه تاسو

قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ فِي الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ

داسے قوم يئ | چه ازميښت در باندې كولے شى | او وو | په دے ښار كښے | نهه سرى | چه فساد به ئے كولو

هغه خلق يئ چه په ازميښت كښے اخته شوى يئ . او په دے ښار كښے نهه سرى وو چه په ملك كښے ئے فساد

فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ

په زمكه كښے | او اصلاح به ئے نه كوله | دوى ووئيل | تاسو يو بل ته قسمونه وخورئ | په الله | مونږ به دَ شپے حمله وكړو په ده

خورولو او سمون به ئے نه راوستلو ، هغوئ ووئيل چه په خپل مينځ كښے په الله قسمونه وخورئ چه شپه به

وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ

او دَ ده دَ كور په خلقو | بيا به خامخا مونږ ووايو | دَ ده وارث ته | چه مونږ موجود نه وو | په وخت دَ وژلو | دَ ده دَ خاندان

صالحؑ او دَ هغهٔ بال بچ مړه كړو نو بيا به دَ هغهٔ وارث ته ووايو چه مونږ دَ هغهٔ دَ بال بچ دَ وژلو په وخت كښے موجود نه وو

وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۰﴾

او بیشکه مونږ | رښتيني يُو | او دوی يو پټ تدبير وکړو | او مونږه هم يو پټ تدبير وکړو | او دوی | نه پوهيدل -

او بیشکه مونږ رښتيا وايُو . او ثمود يانو يو پټ تدبير وکړو او مونږه هم يو پټ تدبير وکړو چه هغوی پرې نه پوهيدل

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۱﴾

پس وګوره | چه څنګه | وو | انجام | د دوی د فريب | چه مونږ هلاک کړل دوی | او قوم د دوی | ټول

نو وګوره چه د دغه خلقو د فريب انجام څه شو؟ چه مونږ هغوی هم او د هغوی ټول قوم هم تباه کړه.

فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوْا ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۵۲﴾

پس دا | د دوی کورونه دي | غورزيدلي | په وجه د دوی د ظلم | بيشکه | په دې کښې | نخښه ده | هغو خلقو د پاره | چه پوهيږي

نو (اوس) دغه د کورونه دي چه د دوی د کفر په وجه وران ويجاړ پراته دي. بيشکه په دې کښې پوهه خلقو د پاره نښان د عبرت دی

وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۳﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖۤ

او مونږ نجات ورکړو | هغو خلقو ته | چه ايمان ئې راوړو | او پرهيزګاري ئې کوله | او لوط | هر کله چه ده ووئيل | خپل قوم ته

او څوک چه ايماندارا او پرهيزګار وو هغوی مو خلاص کړل . او مونږ لوط ليږلے وو څه وخت چه هغه خپل قوم ته ووئيل

اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۴﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ شَهْوَةً

ايا تاسو کوئ | کار د بے حيائي | او تاسو | وينئ | ايا تاسو | راځئ | سړو ته | په اراده د شهوت

چه دا تاسو څه د بے حيائي کار کوئ سره د دے چه وينئ ګورئ - ايا تاسو سړو سره خپل شهوت سړوئ

مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۵۵﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖۤ

بغير | د ښځو نه | بلکه | تاسو | قوم يئ | ډير جاهل | پس نه وو | جواب | د ده د قوم

چه ښځے مو پريښودي دي حقيقت دا دے چه تاسو ډير جاهل قوم يئ. نو د هغه قوم نه بل هيڅ جواب ورنه شو

اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْۤا اَخْرِجُوْۤا اٰلَ لُوْطٍ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿۵۶﴾

مګر دا چه | دوی ووئيل | چه وباسئ | ال د لوط | له خپل کلي نه | بيشکه دوی | دا سے خلق دي | چه پاکي خوښوي

خو دا ئې ووئيل چه د لوط خپلوان د خپل کلي نه بهر وباسئ دوی خپل ځانونه پاک پاکيزه ښکاره کوي.

فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۫ قَدَّرْنٰهَا مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاَمْطَرْنَا

پس مونږ نجات ورکړو ده ته | او د ده اهل ته | سيوا | د ده د ښځے نه | مونږ مقرر کړے وه دا | له ورستو پاتے کيدونکو نه | او ووروَلو مونږ

نو مونږ هغه هم او د هغه خپلوان هم بچ کړل سيوا د ده د ښځے نه د کوم په حقله چه مونږ مقرر کړے و چه ورستو پاتے کيدونکو نه

عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۵۸﴾ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

په دوی باران | يو باران | پس بد دے | باران | د ويرولو شوو | دوايه | ټول تعريفونه | الله لره دي

په دوی او په هغوی مو يو بل قسم باران راووَرولو نو څومره خراب باران وو د ډيرو شوو خلقو په حقله . دوايه! ټول تعريفونه الله لره دي

وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾

او سلام دے | د ده په بندګانو | کوم چه | ده غوره کړل | آيا الله | غوره دے | يا کوم چه دوی شريک مقرر وي

او د هغه په چوڼ کړو بندګانو دې سلام وي ، آيا الله تعالى غوره دے که هغه څيزونه چه دوی ئې ورسره د ځان نه شريکوي؟

١٩ ع

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ډاکټر محمد دین

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ

آیا چا پیدا کړل | آسمانونه | او ځمکه | او راښکته ئې کړے | تاسو دپاره | له آسمان نه

که هغه ذات چه آسمانونه او ځمکه ئې پیدا کړې دي؟ او چا له آسمان نه تاسو دپاره باران

مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ

اوبه | پس وټوکول موږ | په دے سره | باغونه | ښائسته | نه وو (ممکن) | تاسو دپاره

ورولو ۰ نو پیا موږ د هغے (اوبو) په ذریعه ښائسته ښائسته باغونه راټوکولي دي، داستاسو د وس خبره

اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ

چه راټوکوئے تاسو | اونې د هغے | ایا بل څوک معبود شته | الله سره؟ | (نه) بلکه | دوی | یو ډله ده

نه ده چه د هغے باغونو اونې مو راژرغونولے. ایا د الله سره څوک بل معبود هم شته؟ (نه) بلکه دا هغه خلق دي چه (د پیشوګ

يَّعْدِلُوْنَ ۝٦٠ اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ

چه کاږه روان دي | آیا چا | جوړه کړله | ځمکه | ځائے د قرارۍ | او جوړے کړل | په مینځ د دے کښے

کولو) د لارے نه تیرے شوي دي، بلکه هغه ذات چه ځمکه ئې د قرارۍ ځائے کړو او په دے کښے ئې نهرونه

اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ؕ

نهرونه | او پیدا ئې کړل | په دے کښے | غرونه | او پیدا ئې کړله | په مینځ د دوؤ دریابونو کښے | پرده

جاري کړل او دے د پاره ئې غرونه جوړ کړل او د دوؤ دریابونو تر مینځه ئې دیوال ودرولو ، آیا

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦١ اَمَّنْ

آیا بل معبود شته | د الله سره؟ | بلکه | اکثر په دوی کښے | نه پوهیږي. | آیا څوک دے

د الله سره بل څوک معبود شریک شته؟ بالکل نشته خو په دوی کښے اکثر خلق نه پوهیږي. که هغه ذات

يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ

چه جواب ورکوي | ناچاره ته | هرکله چه دے وبلي هغه | او لرے کوي | تکلیف | او جوړوي تاسو

چه د ناچاره بنده دعا اوري هرکله چه هغه ورته بلنه کوي او مصیبت ترے نه لرے کوي او تاسو ئې په ځمکه

خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۝٦٢

ناښان | (په) ځمکه (کښے) | آیا بل معبود شته | د الله سره | ډیر لږ | تاسو نصیحت حاصلوئ

بانې اختیار هغه کړي دي. آیا د الله سره بل څوک معبود شریک شته (نشته) خو تاسو ډیر کم نصیحت اخلئ.

اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ

ایا څوک دے | چه لاره ښائي تاسو ته | په تیاره کښے | د بیابان | او د دریاب | او څوک | رالیږي

که هغه ذات چه تاسو ته د اوچه او د سمندر په تورو تیارو کښے لارے ښائي ، او هغه ذات چه د خپل

الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ

هواګانے | زیرے ورکوونکي | وړاندې | له رحمت (باران) نه | ایا بل معبود شته | د الله سره؟

(باران د) رحمت نه وړاندې زیرے ورکوونکي بادونه رالیږي. ایا د الله سره بل څوک معبود هم شته؟

تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ

وېرلوړ دے | الله | له هغه څه نه | چه دوی ئے شریک نیسی | ایا څوک دے | چه په اول ځل پیدا کوی | مخلوق

الله تعالیٰ د دوی د جوړو کړو شریکانو نه ډیر اوچت دے. بلکه هغه ذات چه مخلوقات ئے په اول ځل پیدا کړل

ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

بیا به | دوباره پیدا کوی هغه | او څوک | رزق درکوی تاسو ته | له آسمان | او د زمکے نه

او بیا به ئے سر دوباره پیدا کوی او که هغه ذات چه تاسو له د آسمان نه او د زمکے نه روزی درکوی.

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

آیا بل معبود شته | د الله سره | ووایه | راوړئ | خپل دلیل | که چرے یئ تاسو

آیا الله تعالیٰ سره څوک بل معبود هم شته؟ (اے نبی!) ته ورته ووایه چه خپل دلیل راوړاندے کړئ که تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

رښتینی | ووایه | نه پوهیږی | هغه څوک چه | په آسمانونو | او زمکه کښے دی

رښتینی یئ. ورته ووایه چه په آسمانونو کښے او د زمکے په مخ بغیر د الله تعالیٰ نه بل هیڅوک په غیبو

الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٦٥﴾ بَلِ

په غیبو | سیوا | د الله نه | او نه پوهیږی | چه کله به | دوی راپاڅولے شی | بلکه

نه پوهیږی، او دوی خو دومره هم خبر نه دی چه کله به (سر دوباره) راژوندی کیږی. بلکه

ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ بَلْ هُمْ فِىْ شَكٍّ مِّنْهَا

ختم شوے دے | علم د دوی | د آخرت په حقله | بلکه | دوی | په شک کښے دی | له دے نه

د آخرت په حقله خو د دوی خپل علم هیڅ نه دے. بلکه دا خلق خو په خپله د آخرت په حقله هم په شک کښے پراته

بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا ع ٥

بلکه | دوی | له دے نه | ړانده دی | او وائی | هغه خلق چه | کافران دی | آیا هر کله چه شو موږ

دی نا. بلکه دوی د هغے د طرف نه ګانو نه ړانده ګرځی دی. او دا کافران وائی چه آیا هر کله موږ او زموږ مشران

تُرٰبًا وَّاٰبَآؤُنَآ اَئِنَّا لَمُخْرَجُوْنَ ﴿٦٧﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا

خاوره | او زموږ پلاران (هم) | (نو) آیا موږ به | بهرته راوویستلے شو؟ | بیشکه | وعده شوے ده | د دے

خاورے شو نو آیا موږ به دوباره ژوندی کولے شو؟ دا وعده وړاندے هم موږ سره

نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ

موږ سره | او زموږ پلار نیکه سره | له دے نه وړاندے | نه دی | دا | مګر | قیصے

او زموږ پلار نیکه سره شوی دے، دا هسے د مخکنو خلقو (جوړے کړے) قیصے

الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

د مخکنو خلقو | ووایه | وګرځئ | په زمکه کښے | بیا وګورئ | څنګه | شو

دی. ورته ووایه چه په زمکه کښے وګرځئ او وګورئ چه د مجرمانو

عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٦٩﴾ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ فِىْ ضَيْقٍ

انجام | دَ ګناهګارو | او ته غم مه کوه | په دوی باندې | او مه کیږه ته | زړه تنګے

انجام څنګه شو ؟ او ته دَ دوی په حال غم مه کوه ، او دَ دوی په فریبونو خپل

مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

له هغه څه نه چه دوی ئے فریب کوی | او دوی وائی | کله به وی | دا | وعده | که چرے یئ تاسو

زړګے مه تنګوه ، او دوی وائی چه دا وعده به کله پوره کیږی که چرے تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٧١﴾ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِىْ

رښتینی | ووایه | شاید | چه شوے وی | نزدے تاسو ته | څه | هغه څه چه

رښتینی یئ ؟ اے پیغمبره ! ته ورته ووایه چه کیدے شی چه تاسو کوم عذاب دومره په تلوار غواړئ دَ هغه

تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ

په تلوار ئې غواړئ تاسو | او بیشکه | ستا رب | لوئے فضل والا دے | په خلقو باندې | او لیکن

یو سر په تاسو باندې لګیدلے وی . او بیشکه ستا رب په خلقو ډیر مهربان دے خو اکثر

اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ

اکثر په دوی کښے | شکر نه کوی | او بیشکه | ستا رب | خامخا پوهیږی | څه چه پټوی

خلق شکر نه کوی . او بیشکه ستا رب ته هر څه معلوم دی څه چه دوی په

صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ فِى السَّمَآءِ

دَ دوی سینے | او څه چه | دوی ښکاره کوی | او نه دے | هیڅ غائب | په آسمان کښے

زړونو کښے پټوی او څه کارونه چه په ښکاره کوی . او په آسمان کښے یا په زمکه کښے داسے هیڅ څیز

وَالْاَرْضِ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٧٥﴾ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ

او زمکه (کښے) | مګر | هغه دے په کتاب | واضح کښے | بیشکه | دا | قرآن | بیانوی

پټ نشته چه هغه په واضح کتاب (لوح محفوظ) کښے درج نه وی . بیشکه چه دا قرآن بنی اسرائیلو ته هغه

عَلٰى بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَكْثَرَ الَّذِىْ هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٧٦﴾ وَاِنَّهٗ

په بنی اسرائیلو باندې | اکثر هغه خبرے چه | دوی په هغې کښے | اختلاف کوی | او بیشکه دا

اکثرے خبرے څرګندوی چه دوی په کښے (تراوسه) اختلافونه کوی ، او دا کتاب دَ

لَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٧﴾ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِىْ بَيْنَهُمْ

هدایت | او رحمت دے | دَ مؤمنانو دَ پاره | بیشکه | ستا رب به | فیصله وکړی | دَ دوی ترمینځه

ایماندارو په حقله دَ هدایت ذریعه او عین رحمت دے . بیشکه چه ستا رب به دَ دوی ترمینځه په خپل حکم

بِحُكْمِهٖ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ﴿٧٨﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ

په خپل حکم سره | او دے | زبردست دے | پوهه دے | پس توکل کوه | په الله

فیصله وکړی او هغه دَ قدرتونو خاوند دے په هر څه پوهه دے . نو ته په الله تعالیٰ باندې باور ساته

إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴿٧٩﴾ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ

بیشکه ته یې | په حق (دین) | واضح | بیشکه ته | نه شې آورولے | مړو ته | او نه شې آورولے

بیشکه ته جاري یې په حقه روان یې . بیشکه ته مړو ته خپله خبره نه شې آورولے ، او نه کڼړو ته

الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَا أَنتَ بِهَادِي الْعُمْيِ

کڼړو ته | آواز د بلنې | هر کله چه | دوی مخ وګرځوي | شا کوونکي | او نه یې ته لاره ښوونکے | ړندو ته

خپل آواز آورولے شې څه وخت چه هغوی شا کړي او روان شي. او نه ته ړندو ته چه په ګمراهئ کښې پراته

عَن ضَلَالَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم

د دوی د ګمراهئ نه | نه شې آورولے ته | مګر | هغه چا ته چه ایمان لري | زموږ په آیتونو | پس هم دوی

دي لاره ښودلے نه شې ته خو صرف هغو خلقو ته آورولے شې چه زموږ په آیتونو ایمان راوړي او هغه

مُّسْلِمُونَ ﴿٨١﴾ وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ

فرمانبردار دي | او هر کله چه | پوره شي | وعدهٔ (د عذاب) | په دوی | (نو) موږ به راوباسو | دوی د پاره

فرمانبردار دي ، او هر کله چه (د الله تعالیٰ) وعده د دوی په حق کښې پوره شي نو موږ به ورله د ځمکے

دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا

یو څناور | له ځمکے نه | چه خبرے به کوي د دوی سره | چه | خلقو به | زموږ په آیتونو

نه یو څناور راوباسو چه خبرے به ورسره کوي ، چه دے خلقو زموږ په آیتونو یقین

لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّن

یقین نه لرلو | او په کومه ورځ | چه موږ جمع کړو | له هر یو اُمت نه | یوه ډله | د هغو خلقو چه

نه لرلو . او په کومه ورځ چه موږ د هر یو اُمت نه د هغه خلقو یو ټولے راغونډ کړو چه زموږ آیتونه

يُكَذِّبُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوا

دروغ به ئې ګڼړل | زموږ آیتونه | بیا دوی به | تقسیم کړے شي (په ډلو کښې) | تر دے چه | هر کله دوی راشي

ئې دروغ ګڼړل نو هغوی به په ډلو کښې تقسیم کړے شي . تر دے چه هر کله هغوی راشي

قَالَ أَكَذَّبْتُم بِآيَاتِي وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا

ؤ به فرمائي (الله) | آیا دروغ ګڼړلي وو تاسو | زما آیتونه | او احاطه نه وه کړے تاسو | په هغې | په علم سره | یا نو څه

نو الله به ورته فرمائي چه آیا تاسو زما آیتونه دروغ ګڼړل ؟ حال دا چه تاسو پرے ځان پوهه کړے قدر له هم نه وو ، یا د ډے

كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُوا

به تاسو کول . | او واقع شو | حکم (د عذاب) | په دوی باندے | ځکه چه | دوی ظلم وکړو

نه علاوه) نور مو څه (خراب) کارونه کول . او د هغوی د ظلم په وجه د هغوی په حق کښې به د عذاب وعده پوره

فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾ أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا اللَّيْلَ لِيَسْكُنُوا

پس دوی به | خبرے نه کوي | آیا دوی نه دي کتلي | چه موږ | جوړه کړه | شپه | چه دوی آرام وکړي

شي او هغوی به خبره هم نه شي کولے آیا دوی ؤ نه لیدل چه موږ شپه جوړه کړه چه دوی په کښې آرام

ع ٢

فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾

په هغې کښې | او ورځ | روښانه شوے | بیشکه | په دے کښې | نخښې دی | هغه قوم دپاره | چه ایمان لری

ګکوی او ورځ مو روښانه جوړه کړے ده، بیشکه په دے کښې هغو خلقو دپاره نخښې دی چه ایمان راوړی

وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ

او په کومه ورځ | چه پوک وهلے شی | په شپیلئ کښې | نو ډېر به ویریږی | هغه څوک چه | په آسمانونو کښې دی

او په کومه ورځ چه شپیلئ پوک وهلے شی ، نو څوک چه په آسمانونو او په زمکه کښې موجود دی

وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ

او هغه څوک چه | په زمکه کښې دی | سیوا د هغه چا نه چه | وغواړی الله | او | ټول به | د ده په مخکښې راځی

هغه ټول به وویریږی خو څوک چه الله وغواړی او ټول به ورته (د حکم نه) زوړ شوی

دَاخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ

عاجزه شوی | او ته به وګورې | غرونه | چه ګمان کوے ته په هغې باندې | په ځائے ولاړ | او هغه به | روان دی

راروان وی ۔ او ته چه دے غرونو ته ګورے نو دا خیال به کوے چه پاخه په ځائے ولاړ دی حال دا چه دا

مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ

په شان د تللو | د وریځے | کاریګری | د الله | چا چه | مضبوط جوړ کړو | هر یو څیز | بیشکه دے

غن و نه به تکه د وریځو غونډې الوزی ، دا د الله تعالیٰ کاریګری ده چه هر څیز ئے ډیر مضبوط جوړ کړے دے ، هغه

خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِّنْهَا

خبردار دے | په هغه څه چه | تاسو ئے کوئ | څوک چه راشی | د نیکئ سره | نو هغه د پاره | بهتری ده | له هغې نه

ستاسو په کارو نو ښه خبر دے ۔ څوک چه نیکی راوړاندې کړی نو هغه له به (ډیر) غوره اجر ورکړے شی

وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ

او دوی | له ویرے نه | د دغے ورځے | به په امن وی | او څوک چه راشی | د بدئ سره

او دا خلق به د دغے ورځے د ویرے نه په امن کښې وی ، او څوک چه بدی را مخکښې کړی نو

فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا

پس اړولی به اچولے شی | مخونه د دوی | په دوزخ کښې | تاسو ته به سزا نه شی درکولے | مګر د هغه عملونو چه

پړمخے به په دوزخ کښې ارتاؤ کړے شی (او ویلے به شی) چه تاسو ته صرف د هغو عملونو سزا درکولے

كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ

تاسو به کول | بیشکه چه | حکم شوے دے ماته | چه زه عبادت وکړم | د رب | د دے ښار

شی چه تاسو به دنیا کښې کول ۔ ماته خو صرف دا حکم شوے دے چه زه د دے ښار (مکې) د مالک عبادت وکړم

الَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ

کوم چه | ده عزتمند کړے دے | او هم د ده دے | هر یو څیز | او ماته حکم شوے دے | چه یم زه

چا چه دے ښار ته عزت بخښلے دے او هر څه د هغه دی او ماته دا حکم شوے دے چه (د هغه)

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٩١﴾ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى

له مسلمانانو نه | او چه | تلاوت د کوم زه | د قرآن | پس څوک چه | لاره بیا مومي

فرمانبردار د اوسیږم او دا چه قرآن مجید د اورووم ، نو څوک چه سمه لار ومومي

فَاِنَّمَا يَهْتَدِىْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَاۤ اَنَا

نو بیشکه | هغه لار بیا مومي | خپل ځان د پاره | او څوک چه | بې لارې شو | پس ووایه | بیشکه زه

نو د ځان د پاره به یې نیسي ، او څوک چه ګمراه پاتې شي نو ته ووایه چه زه خو صرف

مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ

له ویرونکو نه یم | او ووایه | ټول تعریفونه | الله د پاره دي | ژر به در وښائي تاسو ته | خپلې نخښې

(د الله د نافرمانۍ د انجام نه) ویروونکے یم . او دا ووایه چه ټول تعریفونه الله لره دي او هغه به درته ډیر ژر خپلې نخښې

فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾

بیا به تاسو وپیژنئ هغه | او نه دے | ستا رب | بې خبره | له هغه څه نه | چه تاسو یې کوئ .

وښائي نو تاسو به یې وپیژنئ ، او ستا رب ستاسو د کارونو نه بې خبره نه دے .

سُوْرَةُ الْقَصَصِ مَكِّيَّةٌ وَّهِىَ ثَمَانٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة قصص په مکه کښې نازل شوې ده کښې ۸۸ آیتونه او ۹ رکوع ګانې دي | (شروع) د الله په نوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

طٰسٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾ نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ

طٰسٓمٓ | دا | آیتونه | د کتاب | روښانه دي | لولو مونږ | په تا | څه حال

طٰسٓمٓ ، دا د هغه واضح کتاب آیتونه دي چه ښکاره بیان کوي ، مونږ د موسیٰ او د فرعون

مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٣﴾ اِنَّ فِرْعَوْنَ

د موسیٰ | او د فرعون | په رښتیا | هغو خلقو د پاره | چه ایمان لري | بیشکه | فرعون

رښتیني حالات تا ته د هغو خلقو په خاطر اوروو چه ایمان والا دي . بیشکه چه فرعون (د مصر

عَلَا فِى الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ

سرکشي وکړه | په زمکه کښې | او جوړ کړي يې وو | خلق د هغې | ټولي ټولي | هغه کمزوري کړي وو

په زمکه کښې ډیر اوچت شوے وو او د هغې ملک خلق یې ټولي ټولي کړي وو چه د یوې ټولۍ (بني اسرائیل) زور

طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْیٖ نِسَآءَهُمْ ؕ اِنَّهٗ

یو ټولي | له هغوی نه | ذبح کول به یې | ځامن د هغوی | او ژوندۍ به یې پریښودې | ښځې د هغوی | بیشکه دے

به یې کمولو د هغوی ځامن به یې حلالول او جینکۍ به یې ژوندۍ پریښودې (چه وینځې یې کوي) هغه ډیر

كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٤﴾ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ

وو | له فساد کوونکو نه | او مونږ غوښتل | چه مونږ احسان وکړو | په هغو خلقو چه

لوئے فسادي سړے وو . او مونږ ته دا منظوره وه چه د کومې ټولۍ زور کمولے شي په

اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ﴿٥﴾

چه کمزوري ګڼلے شوي وو | په زمکه کښې | او مونږ جوړکړو دوی | پیشوایان | او مونږ جوړکړو دوی | وارثان

هغوئ باندې احسان وکړو او دوئ (د ملک) سرداران جوړکړو او هم دوئ (د دے) وارثان جوړکړو.

وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ

او مونږ طاقتور کړو | دوی | په زمکه کښې | او مونږ وښايو | فرعون | او هامان

او په ملک کښې ورله ښې مضبوطے کړو ، او فرعون او هامان او د دوی لښکرو ته د دے (کمزورو)

وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾ وَأَوْحَيْنَا

او لښکرو د دوی ته | د دے (کمزورو د لاس) نه | هغه څيز | د کوم نه چه دوی ویریدل | او مونږ الهام را ولیږو

د لاسه هم هغه (انجام) وښايو د کوم نه چه دوی ویریدل ۰ او مونږ د موسیٰؑ مور

إِلَىٰ أُمِّ مُوسَىٰ أَنْ أَرْضِعِيهِ ۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ

د موسیٰؑ د مور طرف ته | چه ته پئي ورکوه دهٔ ته | پس هر کله چه | ته وویریږے | په دهٔ | نو وغورزوه دے

ته الهام وکړو چه ته دهٔ له تۓ ورکوه نو هر کله چه پرے ته وویریږے ، نو په دریاب کښې

فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي ۖ إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ

په دریاب کښې | او مهٔ ویریږه | او مهٔ غم کوه | بیشکه مونږ به | دے واپس کړو | ستا طرف ته

ئے واچوه او هیڅ اندیښنه مهٔ کوه او هیڅ غم مهٔ کوه مونږ به دا بچے تا ته پسته درکړو

وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٧﴾ فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ

او جوړ به کړو دے | له پیغمبرانو نه | بیا را وچت کړلو دے | د فرعون د کور خلقو | چه شی

او دے به د خپلو پیغمبرانو نه یو پیغمبر جوړ کړو نو د فرعون خلقو موسیٰؑ (د دریاب نه) را وچت کړو چه د

لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا

دوئ د پاره | دښمن | او سبب د غم | بیشکه | فرعون | او هامان | او لښکرے د دوی

هغوئ د دښمنئ او د غم باعث شی ، په دے کښې شک نشته چه فرعون ، هامان او د دوی لښکرے

كَانُوا خَاطِئِينَ ﴿٨﴾ وَقَالَتِ امْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ

وو | خطا کوونکی | او ووئیل | ښځے | د فرعون | یخوالے | د سترګو دے

ټول په غلطئ وو او د فرعون ښځے ووئیل چه دا (هلک) زما او ستا د دواړو د پاره

لِي وَلَكَ ۖ لَا تَقْتُلُوهُ ۖ عَسَىٰ أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ

ما د پاره | او تا د پاره | دے مهٔ وژنئ | شاید | چه دے مونږ له نفع راکړی | یا مونږ ونیسو دے

د سترګو یخوالے دے، دے مهٔ وژنئ ، کیدے شی چه مونږ ته فائده راکړی یا ئے ځان له

وَلَدًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا ۖ

ځوئے | او دوی | نهٔ پوهیدل | او شو | زړهٔ | د موسیٰؑ د مور | خالی (د قرار نه)

ځوئے کړو او هغوئ (په اصل حال) نهٔ پوهیدل ، او د موسیٰؑ د مور زړهٔ ناقلاره شو،

إِنْ كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ لَوْلَا أَنْ رَبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ

بیشکه نږدې وه | دا چه ښکاره کړي | هغه | که چرې نه وے | محکم کړے مونږ | زړه ددے | چه وي دا

نږدے وه چه د موسیٰ حال (د فرعون خلقو ته) ښکاره کړي که مونږ د هغې زړه راټینګ کړے نه وے چه هغه د په

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠﴾ وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ ۖ فَبَصُرَتْ

له یقین کوونکو نه | او (د موسیٰ مور) ووئیل | د ده خور ته | روانه شه د ده پسے | بیا ولیدلو دے

مونږ کلک یقین وساتي. او هغې د موسیٰ خور ته ووئیل چه ته ورپسے درګ وهه ، نو هغې موسیٰ ته د لرې

بِهِ عَنْ جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١١﴾ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ

هغه | د لرے نه | او دوی | نه پوهیدل | او حرام کړے مونږ | په ده باندې | دائی ګانے

نه (پټ پټ) کتل او د فرعون خلق پرے نه خبریدل ، او مونږ د اول نه په هغه باندې دائی ګانے منع

مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُ

له وړاندې نه | پس (د موسیٰ خور) ووئیل | آیا زه ووښایم تاسو ته | یو کور والا | چه د ده پرورش وکړي

کړے وے (چه د چا تے یې نه اخستو) نو د موسیٰ خور ووئیل چه آیا زه درته د یو داسے کور پته ووښایم چه د دے ماشوم

لَكُمْ وَهُمْ لَهُ نَاصِحُونَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدْنَاهُ إِلَىٰ أُمِّهِ كَيْ

تاسو د پاره | او هغوی به | د ده | خیر خواه هم وي | نو مونږ پسته کړو دے | د ده د مور طرف ته | د پاره د دے چه

پالنه به درله کوي او د ده خیر به هم غواړي. نو مونږ هغه خپلے مور ته پسته ورسولو چه د هغې

تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ

یخے وي | سترګے د دے | او غمژنه نه شي | او چه پوهه شي | چه بیشکه | وعده | د الله | ربتیا ده | او لیکن

سترګے پرے یخیږي او چه غمژنه نه وي او چه په دے پوهه شي چه د الله تعالیٰ وعده حقه ده خو

أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَىٰ آتَيْنَاهُ

اکثر له دوی نه | نه پوهیږي | او هر کله چه | دے ورسیدلو | خپلے ځوانئ ته | او پوره (توانا) شو | نو مونږ ورکړو ده ته

اکثر خلق په دے (خبرو) نه پوهیږي او څه وخت چه موسیٰ خپلے ځوانئ ته ورسیدو او ښه تکړه ورشو

حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾ وَدَخَلَ

حکمت | او علم | او د غه شان | مونږ بدله ورکوو | نیکانو ته | او دے داخل شو

نو مونږ ورته حکمت او علم ورکړو او مونږ نیکانو خلقو ته هم د غسے بدله ورکوو . او (یوه ورځ) موسیٰ په

الْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ

په ښار کښے | په وخت | د غفلت کښے | د اوسیدونکو د هغې | پس بیا موندل ده | په دغه کښے | دوه سړي

په داسے وخت کښے ښار ته ورننوتو چه د هغه ځائے خلق غافله وو ، نو هلته ئے دوه تنه سړي په

يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِنْ شِيعَتِهِ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِ ۖ فَاسْتَغَاثَهُ

چه جګړه ئے کوله | دا (یو) | د ده د قوم وو | او دا (بل) | د ده د دښمنانو نه | پس فریاد وکړو ده ته

جنګ ولیدل دا (یو) خو د ده د قوم (بني اسرائیل) نه وو او بل د ده د دښمنانو نه وو ، نو کوم تن چه د ده د

الَّذِیْ مِنْ شِیْعَتِهٖ عَلَى الَّذِیْ مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى
مُوسیٰ | ته هغهٔ ته | پس سوک ورکړو هغهٔ | چه د دهٔ د دښمنانو نه وو | په خلاف د هغه چا | د دهٔ د قوم نه وو | هغه چا چه
نو موسیٰ ته مدد وغوښتلو، نو موسیٰ ورله یو سوک ورکړو، د موسیٰ په مقابله کښې د سړی په مقابله کښې د دښمن قوم سړے وو هغهٔ د
فَقَضٰى عَلَیْهِ ۖ قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّیْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ عَدُوٌّ
دښمن دے | بیشکه هغه | یو شیطانی حرکت دے | دا (خو) | دهٔ وویل | د هغهٔ | نو کار ئے تمام کړو
د دښمن بښکاره دے، بیشکه چه شیطان بښکاره د شیطانی کار دے شو. موسیٰ وویل دا خو یو شیطانی کار دے. نو هغه په ځائے سوړ شو،
مُّضِلٌّ مُّبِیْنٌ ۟﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ
په خپل ځان | ظلم وکړو | بیشکه ما | اے زما ربه! | دهٔ وویل | بښکاره | ګمراه کوونکے
ما په خپل ځان ظلم وکړو، موسیٰ وویل چه اے زما ربه! چه سړے په غلطه لاره اچوی،
فَاغْفِرْ لِیْ فَغَفَرَ لَهٗ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴿١٦﴾
پس معاف کړه ما | نو معافی ئے وکړه دهٔ ته | بیشکه هم دے | بخښونکے | مهربان دے.
پس ته زما نه معافی وکړه. نو الله تعالیٰ ورته معافی وکړه، بیشکه چه هغه بخښونکے مهربان دے
قَالَ رَبِّ بِمَاۤ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِیْرًا
مددګار | یم زهٔ | پس هیڅ کله به نهٔ | په ما | تا انعام وکړو | لکه چه | اے زما ربه! | دهٔ وویل
موسیٰ وویل چه اے زما ربه! تا چه په ما کوم احسان کړے دے نو زهٔ به هیڅ کله د مجرمانو مددګار
لِّلْمُجْرِمِیْنَ ﴿١٧﴾ فَاَصْبَحَ فِی الْمَدِیْنَةِ خَآئِفًا یَّتَرَقَّبُ فَاِذَا
د مجرمانو | پس صبا کړو دهٔ | په ښار کښې | ویریدونکے | انتظار کوونکے | پس ناګهانه
نهٔ جوړیږم. الغرض په موسیٰ باندې په ښار کښې د ویرے او انتظار په حالت کښې صبا شو نو څهٔ ګوری چه
الَّذِی اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ یَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ لَهٗ مُوْسٰۤى
هم هغه سړے | چه مدد ئے غوښتے وو | پرون | هغهٔ دهٔ ته فریاد کولو | وویل | دهٔ ته | موسیٰ
پرون ترے نه کوم سړی امداد غوښتے وو هغه ورته بیا (د امداد د پاره) آواز نه کوی، موسیٰ ورته وویل چه ته
اِنَّكَ لَغَوِیٌّ مُّبِیْنٌ ﴿١٨﴾ فَلَمَّاۤ اَنْ اَرَادَ اَنْ یَّبْطِشَ بِالَّذِیْ
بیشکه تهٔ | ګمراه یې | بښکاره | بیا هر کله چه | دهٔ اراده وکړه | چه لاس وروا چوی | هغه چا ته چه
خو بښکاره بے لارے سړے یې؟ نو څهٔ وخت چه موسیٰ هغه سړی ته لاس وراوږد کړو کوم چه د دوا
هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ یٰمُوْسٰۤى اَتُرِیْدُ اَنْ تَقْتُلَنِیْ
هغه دښمن وو | د دے دواړو | دهٔ وویل | اے موسیٰ! | آیا تهٔ غواړے | چه تهٔ ما ووژنے
شریک دښمن وو نو هغه (اسرائیلی) وویل چه اے موسیٰ! آیا تهٔ ما هم هغسے وژل غواړے لکه
كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِالْاَمْسِ ۖۗ اِنْ تُرِیْدُ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَ
لکه څنګه چه | تا وژلے دے | یو سړے | پرون | تهٔ نهٔ غواړے | مګر دا چه | تهٔ دې شې
چه پرون دې یو سړے وژلے وو؟ تهٔ خو بس په دے ملک کښې خپل رعب

جَبَّارًا فِي الْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْمُصْلِحِينَ ⑲ وَجَآءَ

ظالم | په زمکه کښې | او نهٔ غواړې | چه یې ږ ته | له نیکانو نه | او راغے

کښېنول غواړې ، او دا نهٔ غواړې چه سمه روغه ږ وکړې ، او یو سړے

رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا الْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ ۡ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ

یو سړے | د اخرے غاړے نه | د ښار | په منډه | دهٔ ووئیل | اے موسیٰ | بیشکه

د ښار د بلے غاړے نه په منډه منډه راغے ، ورته ووئیل چه اے موسیٰ! دلباریان

الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ

سرداران | مشورے کوی | ستا په حقله | چه ووژنی ستا | پس ته ووځه | بیشکه زهٔ | تا د پاره

ستا په حقله مشورے کوی چه تا ووژنی نو ته (د ملک نه) بهر لاړ شه ، زهٔ ستا خیر

مِنَ النَّٰصِحِينَ ⑳ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ ۡ قَالَ رَبِّ

له نیک خواهانو نه یم | پس وګرځیدو تلو | د هغه ځائے نه | ویریدو دلته | انتظار کوونکے | دهٔ ووئیل | اے زما ربه

غواړم - نو موسیٰ د هغه ځائے نه د ویرے او پریشانئ په حال کښې ووتلو ، دا ئے ووئیل چه اے زما ربه!

نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّٰلِمِينَ ㉑ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ

نجات راکړه ماله | د ظالمانو له قوم نه | او هر کله چه متوجه شو | طرف د مدین ته | نو وئے وئیل

ما د دے ظالمانو نه خلاص کړه ! او کله وخت چه موسیٰ د مدین اړخ ته روان شو نو دا ئے ووئیل

عَسَىٰ رَبِّيٓ أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَآءَ السَّبِيلِ ㉒ وَلَمَّا وَرَدَ

امید لرم | چه زما رب به | ونبائی ماته | نیغه | لاره | او هر کله چه | دے ورسیدو

چه امید دے چه خپل رب به راته سمه لار ونبائی - او بیا کله وخت چه د مدین د اوبو

مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُونَ ۡ وَوَجَدَ

اوبو د مدین ته | دهٔ بیاموند له | هلته | یو ډله | د خلقو | چه خړوبول ئے (څاروی) | او دهٔ بیاموندلے

غاړے ته ورسیدو نو هلته ئے د خلقو یو ټولے بیاموندلو چه (څاروی) خړوبوی او د هغوی نه بښکته

مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ۡ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ

د دوی نه جُدا | دوه ښځے | چه راښکل کړے ئے وے (چیلئ) | دهٔ ووئیل | څهٔ دے حال ستاسو

اړخ ته ئے دوه ښځے ولیدے چه (چیلئ ئے) را ایسارے کړے ولاړے دی ، موسیٰ ووئیل چه تاسو څهٔ غواړئ؟

قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ۖ وَأَبُونَا

هغو دواړو ووئیل | نهٔ شو خړوبولے مونږ | تر دے چه | واپس بوځی | شپانهٔ | او زمونږ پلار

هغوئ ووئیل چه مونږ (په خپلو څارو) اوبه نهٔ څښوو تر څو چه ګډبانه (خپل ګلهٔ کوته) وستنه نهٔ کړی او زمونږ پلار

شَيْخٌ كَبِيرٌ ㉓ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى الظِّلِّ

ډیر بوډا دے | نو موسیٰ خړوب کړے | د دوئ (چیلئ) | بیا | ورو ګرځیدو | طرف د سورے ته

ډیر بوډا دے ، نو موسیٰ د هغوئ په خاطر (په ګډو) اوبه وڅښولے نو بیا یو اړخ ته په سورے کښېناستو نو دا

فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ

پس دۀ ووئیل | اے زما ربه! | بیشکه زۀ | هغه څیز ته چه | ته ئے نازل کړے | زما طرف ته | له ښیګړے نه

دُعائے وکړه چه اے زما ربه! اوس هر څۀ نعمت چه د را ولیږلو نو زۀ ورته لیواله

فَقِيرٌ ﴿٢٤﴾ فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِي عَلَى ٱسْتِحْيَآءٍ ز

محتاج یم | پس راغله دۀ ته | یوه (جینۍ) له دواړو نه | راروانه | په حیا سره

یم. بیا په دے دوؤ جینکو کښے یوه ورته (واپس) راغله چه د حیا تګ ئے کولو،

قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ

دے ووئیل | بیشکه | پلار زما | بلی تا | د پاره د دے چه درکړی تا ته | بدل له | د هغے چه څروب کړے تا

هغې ووئیل چه زما پلار د غواړی چه تا له زموږ په دے کنډک بانډې د اوبو څښولو

لَنَا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيْهِ ٱلْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ ۖ

د پاره زموږ | پس هرکله چه | د ئے راغلو دۀ ته | او بیان ئے کړله | دۀ ته | قصه | دۀ ووئیل | مۀ ویریږه

بدله درکړی نو څۀ وخت چه هغه شعیب ؑ له راغلو او هغۀ ته ئے خپله قصه بیان کړله نو هغۀ ورته ووئیل چه مۀ ویریږه

نَجَوْتَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا

ته خلاص شوے | له ظالم قوم نه | ووئیل | یوے له دے دواړو نه

ته د ظالمانو خلقو (د لاس) نه راخلاص شوے یې. په دے جینکو کښے یوے ووئیل چه اے زما پلاره!

يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِيُّ

اے زما پلاره! | ملازم وساته دے | بیشکه | ویر ښه (سړے) | کوم چه ته ئے ملازم ساتے | چه توانا

دے نوکر کړه، ځکه چه ښۀ نوکر هغه دے چه قوی او امانت ګر

ٱلْأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى

امانت دار وی | (شعیبؑ) ووئیل | بیشکه زۀ | غواړم | چه په نکاح درکړم تا ته | یوه

وی. هغۀ ورته ووئیل چه زۀ دا غواړم چه په خپلو دوؤ لوڼو کښے د یوے تا سره

ٱبْنَتَيَّ هَٰتَيْنِ عَلَىٰٓ أَن تَأْجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٍ ۖ

زما له دے دواړو لوڼو نه | په دے (شرط) | چه ته ملازمت وکړے زما | اته | کاله

نکاح وکړم، په دے شرط چه ته به اته کاله زما خدمت کوے.

فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ ۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ

بیا که چرے ته پوره کړے | لس (کاله) | نو (هغه) به ستا له طرف نه (نیکی) وی | او نۀ غواړم زۀ | چه سختی وکړم

او که چرے تا لس کاله پوره کړل نو دا به ستا احسان وی او زۀ په تا څه درون کار کول

عَلَيْكَ ۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ

په تا بانډې | زر به ته بیا مومے ما | که چرے | وغواړی الله | له صالحانو نه | (موسیٰؑ) ووئیل

نۀ غواړم. ته به انشاء الله ما په معامله کښے ډیر ښۀ بیا مومے. موسیٰؑ ورته ووئیل چه

ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ؕ اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ

ذا (وعده ده) | په مینځ زما | او په مینځ ستا کښې | کومه موده چه هم په دواړو کښې | زهٔ پوره کړم

دا خبره زما او ستا تر مینځهٔ خلاصه شوه . په دواړو کښې هرٔ یوه نیته چه زهٔ پوره کړم نو په

فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ۲۸

نو نهٔ به وی جبر | په ما باندې | او الله | په هغه څهٔ چه | مونږ ئے وایو | ګواه دے

ما به جبر نهٔ وی . او څهٔ چه مونږ وایو الله تعالیٰ په هغې ګواه دے

فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ وَسَارَ بِاَهْلِهٖۤ اٰنَسَ

پس هرکله چه | پوره کړه | موسیٰؑ | موده | او روان شو | خپل کورواله سرۀ | نو ؤ لیدوهٔ

نو څهٔ وخت چه موسیٰؑ نیته پوره کړه ، او د خپل ټبر سره (پسته مصرته) روان شو نو د طور نه

مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا ۚ قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْۤا اِنِّيْۤ اٰنَسْتُ

له (کوهِ) طور د طرف نه | یو اور | دهٔ ووئیل | خپل کور والاته | ایسار شئ تاسو | بیشکه ما ؤ لیدو

غرهٔ) د غاړے نه ئے یو اور ؤ لیدو ، خپل کور والاته ئے ووئیل چه تاسو دلته ایسار شئ ، ما اور لیدلے

نَارًا لَّعَلِّيْۤ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ

اور | شاید زهٔ | راوړم تاسو ته | له دغه ځائے نه | څهٔ خبر | یا (راوړم) څهٔ شعله | د اور

دے ، شاید چه تاسو له ترے نه څهٔ خبر راوړم ، یا د اور یوه شعله چه تاسو ورته ځان

لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ۲۹ فَلَمَّاۤ اَتٰىهَا نُوْدِيَ مِنْ شَاطِئِ

چه تاسو | ځان تود کړئ | پس هرکله چه | دے راغے هلته | (نو) آواز ورته ؤشو | له غاړے نه

تود کړئ ، نو څهٔ وخت چه موسیٰؑ د اور خواته ؤرسیدو نو د هغه میدان د ښی طرف نه په

الْوَادِ الْاَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ اَنْ يّٰمُوْسٰۤى

میدان د ښی اړخ | په ځائے | برکتی کښې | له یوے اونے نه | چه اے موسیٰ!

په هغه مبارک ځائے کښې د یوے اونے نه ورته آواز ؤشو چه اے موسیٰ!

اِنِّيْۤ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۳۰ وَاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ؕ

بیشکه هم زهٔ یم | الله | پروردګار | د جهانونو | او چه | ؤغورزوه | خپله امسا

بیشکه هم زهٔ هغه الله یم چه د ټولو جهانونو پروردګار یم . او خپله امسا ؤغورزوه .

فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا

پس هرکله چه | دهٔ ؤلیده امسا | چه حرکت کوی | لکه چه دا | مار دے | (نو) دے واپس شو | شا ګرځونکے

نو څهٔ وخت چه هغهٔ ؤلیده چه امسا لکه د مارغونې حرکت کوی نو شا غاړے ته ئے منډه کړه او په

وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰۤى اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۫ اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ۳۱

او بیرته راؤنهٔ ګرځیدو | (حکم ؤشو) اے موسیٰ! | راوړاندې شه | او مهٔ ویریږه | بیشکه ته | له امن مونډونکو نه یې

وروستو ئے ؤنهٔ کتل (مونږ ووئیل) اے موسیٰ! راوړاندې شه او مهٔ ویریږه ، ولے چه ته په امن یې !

اُسْلُكْ يَدَكَ فِیْ جَیْبِكَ تَخْرُجْ بَیْضَآءَ مِنْ غَیْرِ سُوْٓءٍ ؗ

ننباسه | خپل لاس | په خپل گریوان کښې | هغه به راوځي | سپین | بې له څه عیب نه

(او) خپل لاس گریوان ته ننباسه نو بغیر د څه عیب نه به ځلنده سپین راوځي

وَّاضْمُمْ اِلَیْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ

او ملا ؤ کړه | خپل ځان ته | خپل مټ | له ویرې نه | پس دا دواړه | دلیلونه دي

او د ویرې (د لرې کولو) د پاره خپل لاس (بیا) خپل بازو سره یوځائې کړه (چه سم شي) ، دا ستا د رب له طرف نه

مِنْ رَّبِّكَ اِلٰی فِرْعَوْنَ وَمَلَا۠ىِٕهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا

ستا د ربّ له طرف نه | طرف د فرعون | او د سردارانو د هغهٔ ته | بیشکه دوی | ؤو

فرعون او د هغهٔ سردارانو د پاره دوه نخښې دي ، یقیناً هغوی ډیر

قَوْمًا فٰسِقِیْنَ ۝ قَالَ رَبِّ اِنِّیْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ

خلق | نافرمانه | ده وویل | اے زما ربه! | بیشکه ما | وژلے دو | له دوی نه

نافرمانه خلق دي . موسیٰؑ وویل اے زما ربه ! ما له هغوی نه یو سړے وژلے

نَفْسًا فَاَخَافُ اَنْ یَّقْتُلُوْنِ ۝ وَاَخِیْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ

یو سړے | پس ویریږم زهٔ | چه دوی به ما ووژني | او زما ورور | هارونؑ | هغه | زیات فصیح دے

دو ، په دے ویریږم چه مړ م نهٔ کړي . او زما د ورور هارون ژبه زما نه زیاته

مِنِّیْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِیَ رِدْاً یُّصَدِّقُنِیْۤ ؗ

له مانه | په ژبه کښې | پس ولیږه که دے | ماسره | مددگار | چه دے زما تصدیق وکړي

روانه چلیږي ، په دے وجه تهٔ هغه ماسره (زما) مددگار جوړ کړه ولیږه چه هغه زما تصدیق وکړي

اِنِّیْۤ اَخَافُ اَنْ یُّكَذِّبُوْنِ ۝ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِاَخِیْكَ

بیشکه زهٔ | ویریږم | چه دوی به ما دروغژن وگڼړي | ده فرمائیل | مونږ به مضبوط کړو | ستا مټ | په ورور ستا

ماسره دا اندیښنه ده چه هغوی به ما دروغژن وگڼړي الله وفرمائیل چه مونږ به ستا د ورور په ذریعه ستا مټ مضبوط

وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا یَصِلُوْنَ اِلَیْكُمَا ۚۛ بِاٰیٰتِنَاۤ ۚۛ

او مونږ به درکړو | تاسو دواړو ته | غلبه | پس دوی به نهٔ شي دررسیدے | تاسو ته | په وجه د نخښو زمونږ

کړو او تاسو دواړو له به غلبه درکړو نو هغوی به درله لاس نهٔ شي دروړے ، زمونږ د نخښو په وجه

اَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ ۝ فَلَمَّا جَآءَهُمْ

تاسو دواړه | او کوم خلق چه | ستاسو پیروي وکړي | غالب به وي | پس هر کله چه | راغے دوي ته

به تاسو او ستاسو ملگري غالب راځئ - پس هر کله چه موسیٰؑ هغوی ته

مُّوْسٰی بِاٰیٰتِنَا بَیِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًی

موسیٰ | زمونږ په واضحه نخښوسره | دوی وویل | نهٔ دے دا | مگر | جادو | تړلے شوے

زمونږ څرگندې دلیلونه یوړل نو هغوی وویل چه دا خو د ځانه جوړ شوے جادو دے

معانقة ١١

وَمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٦﴾ وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّيٓ
آورېدلي دي اوريږي مونږ | دا | له خپلو پخوانو پلارانو نيكونو نه | او ووئيل | موسیٰ | زما رب
او مونږ چرې دا سې خبرې د پلارنيكه په وختونو كښې هم آوريدلې نه دي. او موسیٰ ورته ووئيل چه زما رب

اَعْلَمُ بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ
ښه پوهه دې | په هغه چا | چه راوړي | هدايت | د ده له طرف نه | او په هغه چا | چه د هغه د پاره
ډير ښه پيژني چه چا د هغه د طرف نه سم دين راوړے دے او د چا د آخرت انجام

عَاقِبَةُ الدَّارِ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ
د آخرت | كور | بېشكه نه كاميابيږي | ظالمان خلق | او ووئيل | فرعون
ښه كيدونكے دے، يقينًا چه ظالمان هيچرې كاميابيدے نه شي. او فرعون ووئيل چه

يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ
اے درباريانو! | زه نه پيژنم | تاسو د پاره | بل څوك معبود | خپل ځان نه سيوا | پس او بل كړه
اے درباريانو! ما ته خو تاسو د پاره د ځان نه سيوا بل خدائے نه ښكاري . نو اے هامانه!

لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ
زما د پاره | اے هامانه! | په خټه | بيا جوړ كړه | زما د پاره | يو محل | د پاره د دې چه زه
ماله خټه په اور كښې پخه كړه او يوه ماڼۍ راله جوړه كړه شايد چه زه

اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٣٨﴾
وگورم | د موسیٰ د معبود طرف ته | او بېشكه زه | گمان كوم په ده | له دروغ ويونكو نه
(په هغې كښې) د موسیٰ خدائے وليدے شم، او زه خو دا سړے د دروغژن گڼړم

وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا
او تكبر وكړو | ده | او د ده لښكرو | په زمكه كښې | په ناحقه | او دوي خيال وكړو
او فرعون او د هغه لښكرو په ناحقه په زمكه كښې سركشي وكړه او دائے خيال وو چه

اَنَّهُمْ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٣٩﴾ فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ
چه بېشكه دوئي به | زمونږ طرف ته | بيرته نه شي راگرځولے | نو مونږ ونيولو دے | او لښكرے د ده | بيا مونږ وغورزول دوي
مونږ ته به هيچرے پستنه نه راځي . نو مونږ هغه او د هغه لښكرے ونيوے او بيا مونږ هغوئي

فِي الْيَمِّ ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنٰهُمْ
په درياب كښې | پس وگوره | څنگه | شو | انجام | د ظالمانو | او جوړ كړل مونږ دوي
په درياب كښې وغورزول نو ته وگوره چه د دغې ظالمانو آخره خاتمه څنگه شوه؟ او مونږ هغوئي

اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿٤١﴾
پيشوايان | چه بلل به دوي (خلق) | طرف د اور ته | او په ورځ | د قيامت به | د دوي مدد نه شي كيدے
پيشوايان جوړ كړي وو چه هم د دوزخ طرف ته به ئے (خلق) رابلل او د قيامت په ورځ به (هم) د هغوئي څه مدد نه شي كيدے

وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ
او وُ لګولو موږ دوی پسې | په دې دنیا کښې | لعنت | او په ورځ د قیامت به | دوی
او په دې دنیا کښې مو ورپسې لعنت و لګولو او د قیامت په ورځ به (هم) د هغوی حال
مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ
له بد حاله خلقو نه وی | او بیشکه | موږ ورکړې وو | موسیٰ ته | کتاب | پس له هغې نه چه
ډیر خراب وی ، او موږ موسیٰؑ له د پخوانو امتونو د تباه کولو نه پس
اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى
موږ هلاک کړل | اُمتونه | پخوانی | دلیلونه | خلقو د پاره | او هدایت
کتاب ورکړو چه د (هغه زمانې د) خلقو د پاره د هوښیارتیا ذریعه وه او سراسر هدایت
وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ
او رحمت | د پاره د دې چه دوی | نصیحت حاصل کړی | او نه وې ته | په طرف د | مغرب کښې
او رحمت وو چه دوی ترې نه سبق واخلی . او ته (د کوهِ طور) قبلنیز اړخ ته موجود نه وې
اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٤٤﴾
هر کله چه موږ ورکړل | موسیٰ ته | حکمونه | او نه | وې ته | له حاضرو خلقو نه
څه وخت چه موږ موسیٰؑ له حکمونه ورکول او ته په هغو خلقو کښې شامل نه وې کوم چه حاضر وو ،
وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ
او لیکن موږ پیدا کړی وو | ډیر اُمتونه | بیا اُوږده شول | په دوی باندې | عمرونه | او نه وې ته
بیا موږ ډیر قومونه پیدا کړل بیا په هغوی اوږده زمانه تیره شوه او ته د مدین
ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا
اُوسیدونکے | په اهل د مدین کښې | چه تا تلاوت کولے | دوی ته | زموږ آیتونه | او لیکن موږ یُو
په خلقو کښې هم دیره نه وې چه زموږ آیتونه د درته آدرولے ، بلکه دا خو هم موږ یُو
مُرْسِلِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا وَلٰكِنْ
رسول لیږونکی | او نه وې ته | په طرف | د طور | هر کله چه موږ آواز وکړو | او لیکن (دا خو)
چه رسولان مو ورته لیږل . او نه ته دغه وخت د طور (غر) په لمنه کښې موجود وې هرکله چه موږ (موسیٰؑ) ته آواز
رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ
رحمت دے | ستا د رب | چه ته و ویروې | هغه خلق | چه نه دے راغلے هغوی ته | څوک ویرونکے
کړے وو خو دا ستا د رب له طرف نه یوه مهربانی ده چه ته هغه قوم (د نافرمانئ د نتیجو نه) وویروې کوم ته چه له تا نه
مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ
له تا نه وړاندې | شاید چه دوی | نصیحت واخلی | او که چرے نه وے (دا خبره) | چه رسیدلے دوی ته
وړاندې څوک ویرونکے نه دے راغلے کیدے شی چه هغوی (ستا) نصیحت قبول کړی او که چرے دا خبره نه وے چه په دوی

مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا

شئ مصیبت | په سبب د هغې چه | وړاندې لیږلې دي | لاسونو د دوی | پس دوی به ووائي | اے زمونږه ربه!

بانې به د خپلو عملونو د لاسه مصیبت راغلے وو ، نو بیا به دے داوینا کانے کولے چه اے زمونږه ربه!

لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ

ولے رادې نه لیږلو تا | زمونږ طرف ته | څوک رسول | چه پیروی کړے وُ مونږ | ستا د آیتونو | او شوے وے مونږ

تا مونږ ته (په دنیا کښې) ولے رسول رانه لیږلو چه مونږ ستا په حکمونو عمل کړے وے ، او مؤمنان

مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟

له مسلمانانو نه | بیا هر کله چه | راغے دوی ته | حق | زمونږ له طرف نه | نو دوی ووئیل

شوی وے . خو کله وخت چه دے خلقو ته زمونږ د اړخ نه حق راورسیدو نو دوی وائي

لَوْلَآ أُوتِىَ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ مُوسَىٰٓ ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ بِمَآ

ولے ورنه کړے شو | په شان د هغې چه | ورکړے شوے وو | موسیٰ ته | آیا دوی انکار ونه کړو | د هغه څه نه

دے نبی ته هم هغه څه ولے ورنه کړے شو چه موسیٰ ته ورکړے شوی وو ، آیا څه چه له دے نه وړاندې موسیٰ ته

أُوتِىَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا۟ سِحْرَانِ تَظَٰهَرَا

چه ورکړے شوی وو | موسیٰ ته | له دے نه وړاندې | دوی ووئیل | چه هغه دواړه جادو دی | د یو بل موافق

ورکړے شوی وو نو دوی د هغې نه انکار نه وو کړے ؟ هغوی چه دا ګوئیلی وو چه دا دواړه (قرآن او تورات) جادو دے د یو بل مدد

وَقَالُوٓا۟ إِنَّا بِكُلٍّ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَأْتُوا۟ بِكِتَٰبٍ

او دوی ووئیل | بیشکه مونږ | د هر یو انکار کوونکی یو | ووایه | پس راوړئ | یو کتاب

موافق او دا وائي چه مونږ هم د دواړو نه انکاریان یو . (اے پیغمبره!) ورته ووایه که چرے تاسو په خپله دعوی

مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَآ أَتَّبِعْهُ

له طرفه د الله نه | چه هغه | زیات هدایت ورکوونکے وی | له دے دواړو نه | چه زه پیروی وکړم د هغې

کښې رښتینی یئ نو تاسو د الله تعالیٰ د طرف نه یو داسے کتاب راوړئ چه د دے دواړو کتابونو (قرآن او تورات)

إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكَ فَٱعْلَمْ

که چرے یئ تاسو | رښتینی | بیا که چرے | دوی قبوله نه کړی خبره | ستا | نو پوهه شه

نه په هدایت کښې زیات جنه وی نو زه به هم د هغې پیروی وکړم ' بیا که چرے دوی تا ته جواب درنه کړے شي نو پوهه شه

أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ

چه بیشکه | دوی پیروی کوی | د خپلو خواهشونو | او څوک | زیات ګمراه دے | له هغه چانه | چه پیروی کوی

چه دوی صرف په خپلو خواهشاتو پسے روان دی ' او د هغه سړی نه به زیات ګمراه څوک وی چه د الله تعالیٰ

هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى

د خپل خواهش | بغیر | د هدایت نه | د الله د طرف نه | بیشکه الله | لاره نه ښائي

د هدایت نه بغیر د خپل خواهش پیروی کوی ، بیشکه الله تعالیٰ ظالمانو خلقو ته

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۰﴾ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ

ظالمانو خلقوته | او بیشکه | پرله پسې ولېږلو موږ | دوی دپاره | (خپل) کلام | دپاره د دې چه دوی

لارې نه ښايي . او خلقو دپاره موږ خپل حکمونه پرله پسې لېږلي . چه هغوی ترې نصیحت

يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۱﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ

نصیحت حاصل کړي | هغه خلق چه | ورکړې دي موږ دوی ته | کتاب | له دې نه وړاندې | دوی | په دې

سبق واخلي . کومو خلقو ته چه موږ (د قرآن نه) وړاندې کتاب ورکړي هغوی په دې (قرآن) باندې هم

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ

ایمان راوړي | او هر کله چه | لوستلے شي | دوی ته | (نو) دوی وائي | ایمان راوړے دے موږ | په دې

ایمان لري او هر کله چه دوی ته قرآن لوستلے شي نو دوی وائي چه موږ په دې ایمان راوړے

اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿۵۳﴾

بیشکه دا | رښتیا دے | زموږ د رب له طرف نه | بیشکه وو موږ | له دې نه وړاندې | فرمانبردار

دے ، دا زموږ د رب له طرف نه برحق دے ، موږ خو (د دې د راتلو نه) وړاندې فرمانبردار یُو .

اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ

هم دا خلق دي | چه دوی ته به ورکړلے شي | د دوی اجر | دوه ځله | ځکه چه | دوی صبر وکړو | او دوی لرې کوي

هم دا خلق دي کومو ته چه به د دوی د صبر په وجه دوه ځله اجر ورکولے شي او دا خلق د نیکۍ

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاِذَا

په ښیګړې سره | بدي | او له هغه څه نه | چه موږ ورکړل دوی ته | خرڅ کوي | او هر کله چه

په ذریعه بدي لرې کوي او څه چه موږ دوی ته ورکړي دي له هغې نه خرڅ کوي . او هر کله چه

سَمِعُوا اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ وَقَالُوْا لَنَآ اَعْمَالُنَا

دوی اوري | فضول خبره | نو مخ واړوي | له هغې نه | او وائي چه | موږ دپاره | زموږ عملونه دي

عبث خبره واوري نو مخ ترې نه وګرځوي او وائي چه زموږ عملونه زموږ دپاره او

وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ؗ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ؗ لَا نَبْتَغِى الْجٰهِلِيْنَ ﴿۵۵﴾

او تاسو دپاره | ستاسو عملونه دي | سلام دے | په تاسو باندې | موږ نه غواړو | جاهلان

ستاسو عملونه تاسو دپاره دي ، زموږ له طرفه په تاسو سلام دے ، موږ د جاهلانو (ملګرتیا) نه غواړو .

اِنَّكَ لَا تَهْدِىْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِىْ مَنْ

بیشکه ته | هدایت نشې کولے | چاته چه ستا خوښه وي | او لیکن | الله | لار ورښائي | چاته چه

(اے پیغمبره!) چاته چه ته غواړې (په خپل خواهش سره) هدایت نشې کولے خو الله تعالیٰ چه چاته غواړي نو

يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ نَّتَّبِعِ

هغه غواړي | او هغه | ښه پوهه دے | په لاره موندونکو | او دوی وائي | که چرے | موږ پیروي وکړو

هدایت ورته کوي او هدایت قبلونکي هغه ته په ښه شان معلوم دي او دوی وائي چه که موږ تاسره په دے

ركوع ۸

القصص

الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَا ؕ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ

دَ هدايت | تاسره | نو موږ به وتښتولے شو | له ځپلے ځمکے نه | آيا ځائے نه دے ورکړے موږ

هدايت روان شو، نو دَ ځپل ملک نه به وشړلے شو. آيا موږ دوئ له دَ

لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا

دوی ته | دَ امن والا په حرم کښے | چه راروسلے شی دَدے طرف ته | میوے | دَ هر قسم | روزی

امن او امان په حرم کښے ښیے مضبوطے کړی نه دی، کوم ځائے ته چه دَ هر قسم میوے رسولے شی دا زموږ له

مِّنْ لَّدُنَّا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا

زموږ له طرف نه | او لیکن | اکثر له دوی نه | نه پوهیږی | او ډیر کلی هلاک کړل موږ

طرف نه دَ دوی رزق دے خو په دوی کښے اکثر خلق په دے خبره نه پوهیږی. او موږ داسے ډیر کلی تباه

مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا ۚ فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ

کلی | چه غرور به ئے کولو | په ځپل گزران | پس دا دی | کورونه دَ دوی

کړل چه په ځپلو سامانونو باندے ئے ځان نه ځاوره وو نو دا دَ دوی (تباه شوی) کورونه (ستاسو په وړاندے) دی

لَمْ تُسْكَنْ مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا ؕ وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۵۸﴾

(چه) نه دی آباد شوی | وروستو له دوی نه | مگر لږ | او شو هم موږ | وارثان

چه دَدے خلقو نه پس ډیر کم اباد شوی دی. او (آخر) هم موږ ئے وارثان شو.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا

او نه دے | ستا رب | هلاکوونکے | دَ کلو | تر دے چه | رااولیږی | په مرکز دهغے کښے

او (اے پیغمبره!) ستا رب تر هغے پورے کلی نه تباه کوی تر څو چه دَ هغے په مرکز کښے څوک پیغمبر

رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرٰٓى

څوک پیغمبر | چه تلاوت کوی | دوی ته | زموږ دَ آیتونو | او نه یو موږ | هلاکوونکی | دَ کلو

رانه لیږی چه زموږ آیتونه ور ته ولولی، او موږ هیڅ یو کلے نه تباه کوو مگر صرف په دے

اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ

مگر | دا چه اوسیدونکی دَ هغے | ظالمان وی | او هر هغه څه | چه درکړے شول تاسو ته | له څه څیز نه

صورت کښے چه هر کله دَ هغے اوسیدونکی نافرمانی اختیار کړی او تاسو له چه څه درکړے شوی دی هغه دَ

فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ

پس (هغه) سامان دے | دَ ژوند | دَ دُنیا | او ښائست دَ دے | او هغه څه | چه دَ الله سره دی | هغه ښه دی

دُنیا دَ ژوند سامان او دَ دے زیب و زینت دے. او څه چه دَ الله تعالیٰ سره دی هغه ډیر ښه

وَّاَبْقٰى ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾ ؑ اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا ع ٦ ٩

او باقی پاتے کیدونکی | پس آیا تاسو عقل نه لرئ؟ | نو آیا هغه څوک | چه وعده کړے ده موږ دَ هغه سره | وعده | ښه

او باقی پاتے کیدونکی دی آیا تاسو خلق نه پوهیږئ؟ آیا هغه څوک چه موږ ورسره ښه وعده کړے ده

فَهُوَ لَاقِيهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

بيا هغه | دهٔ ته ملاويدونکے دهٔ | په شان دَ هغه کس دَے | چه ورکړو موږ دهٔ ته | سامان | دَ ژوندُ دَ دُنيا

چه هغه به ئے خامخا بيا مومي دَ هغه چا په شان کيدے شي کوم له چه موږ دَ دنيا دَ ژوند سامان ورکړے دے

ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٦١﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ

بيا به دے وي | په ورځ | دَ قيامت | له حاضر کړے شوو نه | او په کومه ورځ چه | هغه آواز به ورکړي دوي ته

او بيا به دَ قيامت په ورځ (دَ دوزخ) په حاضرانو کښے شامل وي؟ او په هغه ورځ به الله تعالیٰ ورته آواز کړي

فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِىَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٦٢﴾ قَالَ

بيا به ؤ فرمائي | کوم ځائے دي | زما (هغه) شريکان | دَ کوم چه | به تاسو گمان کولو؟ | ؤ به وائي

او پوس به ؤ کړي چه زما هغه شريکان څهٔ شول چه تاسو به شريک گڼړل؟ نو په چا باندې چه

الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ

هغه کسان | چه ثابت شو | په هغوي باندې | حکم (دَ عذاب) | اے زموږه ربه! | دا هغه خلق دي | کوم چه

دَ الله تعالیٰ عذاب ثابت شوے وي هغوي به ووائي اے زموږه ربه! هم دا هغه خلق دي کوم چه موږ

اَغْوَيْنَا ۚ اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ

موږ گمراه کړي دي | موږ گمراه کړي دي دوي | لکه څنگه چه | گمراه شوي يُو موږ | موږ بيزاره کيږو (له دوي) | طرف ستا ته

بے لارے کړي دو، لکه څنگه چه موږ خپله بے لارے وُو هغه شان موږ دوي گمراه کړل او س موږ ستا په وړاندې دَ دوي نه بيزاره يُو

مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿٦٣﴾ وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ

نهٔ وُو دوي | چه زموږ | عبادت ئے کولے | او وُ به وئيلے شي | راوُ بلئ | خپل شريکان

دوئ خو به زموږ عبادت نهٔ کولو. او (مشرکانو ته به) وويلے شي چه خپل شريکان راوُ بلئ نو دوئ

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ

پس دوئ به ئے راوُ بلي | نو هغوئ به جواب نهٔ ورکوي | دوئ ته | او دوئ به ووينی | عذاب | اے کاش!

به ئے راوُبلي خو هغوئ به هيڅ جواب ورنهٔ کړي، او دوئ به (په خپلو سترګو) عذاب وُوينی، کاش!

اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ

چه دوئ | وے | سمه لار موندونکی | او په کومه ورځ | چه هغه آواز ؤ کړي دوئ ته | بيا به ؤ فرمائي | چه څهٔ

چه دوئ په سمه لار روان راغلي وے. او په کومه ورځ چه (الله تعالیٰ) دوئ راوغواړي او پوس وکړي چه تاسو

اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ

جواب ورکړے وو تاسو | پيغمبرانو ته؟ | پس بندا به شي | په دوي باندې | خبرونه | په دغه ورځ

پيغمبرانو ته څهٔ جواب ورکړے وُو؟ نو په دغه ورځ به دَ هغوئ ټول جوابونه هير شي او به خپل

فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٦٦﴾ فَاَمَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

پس دوئ به | دَ يو بل نه تپوس نهٔ شي کولے | خو څوک چه | توبه وکړي | او ايمان راوړي | او عملونه ؤ کړي | نيک

مينځ کښے به دَ يو بل نه تپوس هم نهٔ شي کولے. خو څوک چه توبه ؤباسي او ايمان راوړي او نيک عملونه کوي

فَعَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿٦٧﴾ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ

نو اُمید دے | چه وي به دے | له خلاصي موندونکو نه | او ستا رب | پيدا کوي | هغه څه چه غواړي

نو اُمید دے چه دغه خلق به کامیابه شي. او ستا رب چه څه غواړي هغه پيدا کوي

وَيَخْتَارُ ؕ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعٰلٰى

او (څه چه) هغه خوښوي | نشته دے | د دوئ | اختيار | پاک دے | الله | او ډير لوړ دے

او (هم هغه په کښې) خوښوي، د دوئ هيڅ اختيار نشته. الله تعالیٰ پاک دے او د دوئ د شريکانو

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا

له هغه څه نه | چه شريکوي ئے دوي | او ستا رب | پوهيږي | په هغه څه | چه پټوي ئے | د دوي سينې | او په هغه څه

نه ډير اوچت دے. او ستا رب ته ټول څيزونه معلوم دي کوم چه د دوئ په زړونو کښې پټ پراته دي او څه چه

يُعْلِنُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ الْحَمْدُ

چه دوي ئے ښکاره کوي | او هم دے الله دے | نشته څوک بل معبود | سيوا د ده نه | ده د پاره دي ټول تعريفونه

دوئ ښکاره کوي او الله هغه ذات دے د کوم نه سيوا چه بل معبود نشته، په دنيا او آخرت دواړو

فِى الْاُوْلٰى وَالْاٰخِرَةِ ۬ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٧٠﴾ قُلْ

په دُنيا کښې | او په آخرت (کښې) | او هم د ده دے حکم | او د ده طرف ته به | بيرته گرځولے شئ | ووايه

کښې هم د هغهٔ تعريف دے، او حکم صرف د هغهٔ چليږي او تاسو له هم د هغهٔ طرف ته واپس تلل دي (اے نبي!) تاسو

اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ

آيا ليدلي دي تاسو | که چيرے | کړي | الله | په تاسو باندې | شپه | هميشه د پاره | تر ورځے

دوي ته ووايه چه دا خو راته وښايئ چه که الله تعالیٰ درباندې هميشه تر قيامته پورے توره شپه جوړه

الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ اَفَلَا

د قيامت | نو څوک معبود دے | د الله نه سيوا | چه راولي تاسو له | رڼرا | پس آيا نهٔ

کړي نو د الله تعالیٰ نه سيوا بل څوک داسے معبود دے چه تاسو له رڼرا درکړے شي، نو آيا تاسو

تَسْمَعُوْنَ ﴿٧١﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ

آورئ تاسو | ووايه | آيا کتلي دي تاسو | که چيرے کړي | الله | په تاسو باندې | ورځ

نهٔ آورئ؟ (بيا) ورته ووايه چه دا خو راته وښايئ چه که الله تعالیٰ درباندې هميشه تر قيامته پورے

سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ

هميشه د پاره | تر ورځے | د قيامت | نو څوک دے معبود | د الله نه سيوا | چه راولي تاسو له | شپه

ورځ جوړه کړي، نو د الله تعالیٰ نه سيوا بل څوک داسے معبود دے چه تاسو له شپه

تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ

چه تاسو آرام وکړئ | په هغے کښې | پس آيا تاسو نهٔ گورئ؟ | او په خپل رحمت سره | ده جوړه کړله | تاسو د پاره

راولي چه تاسو په کښې آرام وکړئ نو آيا تاسو گورئ نه؟ او د هغهٔ دا مهرباني ده چه تاسو له

الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ لِتَسۡكُنُوۡا فِيۡهِ وَلِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ

شپه | او ورځ | چه تاسو آرام وکړئ | په دے کښے | او دپاره ددے چه تاسو ولټوئ | د ده فضل (روزی)

ئے شپه او ورځ دپاره جوړ کړل چه تاسو د شپے آرام وکړئ او (د ورځے) ځان له د هغه مقرره کړے روزی ولټوئ

وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۷۳﴾ وَيَوۡمَ يُنَادِيۡهِمۡ فَيَقُوۡلُ اَيۡنَ شُرَكَآءِىَ

او دپاره ددے چه تاسو | شکر وکړئ | او په کومه ورځ چه | هغه آواز وکړی دوی ته | پس وبه فرمائي | کوم ځائے دی زما شریکان

او چه د هغه شکر وباسئ - او په کومه ورځ چه الله تعالیٰ به ورته په اوچت آواز وائي چه اوس زما هغه

الَّذِيۡنَ كُنۡتُمۡ تَزۡعُمُوۡنَ ﴿۷۴﴾ وَنَزَعۡنَا مِنۡ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيۡدًا

هغه چه | تاسو به ئے | گمان کولو | او مونږ به بهر راوباسو | له هر یو امت نه | یو گواه

شریکان څه شول کوم چه تاسو به گڼړل ؟ او مونږ به د هر یو امت نه یو یو گواه بهر راوباسو -

فَقُلۡنَا هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ فَعَلِمُوۡۤا اَنَّ الۡحَقَّ لِلّٰهِ

پس وبه وایو مونږ | راوړئ | خپل دلیل | پس دوی به پوهه شی | چه رښتینی خبره | د الله ده

نو بیا به ورته وایو چه اوس خپل خپل دلیل راوړاندے کړئ نو هغوئ به پوهه شی چه حقه خبره هم هغه ده چه الله تعالیٰ ویلی ده

وَضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۷۵﴾ ع اِنَّ قَارُوۡنَ

او ورک به شی | له دوی نه | هغه څه چه | له ځانه به دوی جوړول | بیشکه | قارون

او ځلے جوړے کړے ټولے دروغ خبرے به ترے نه هیرے شی ، بیشکه چه قارون د موسیٰ

كَانَ مِنۡ قَوۡمِ مُوۡسٰى فَبَغٰى عَلَيۡهِمۡ ۖ وَاٰتَيۡنٰهُ

وو | له قوم د موسیٰ نه | پس ده ظلم وکړو | په دوی باندی | او مونږ ورکړے وے ده ته

د قوم سړے وو ، خو د خپل قوم په مقابله کښے غرور ئے شروع کړو ، او مونږ ورله

مِنَ الۡكُنُوۡزِ مَاۤ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوۡٓاُ بِالۡعُصۡبَةِ اُولِى الۡقُوَّةِ

خزانے | دومره چه | کنجیانے د هغے | درنے وے | په یو جماعت | طاقتور

دومره ډیرے خزانے ورکړے وے چه د هغے کنجیانے به د مضبوطو کسانو په روغه ډله باندی درنے وے.

اِذۡ قَالَ لَهٗ قَوۡمُهٗ لَا تَفۡرَحۡ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الۡفَرِحِيۡنَ ﴿۷۶﴾

هرکله چه | وویل | ده ته | د ده قوم | چه مه غاوره کیږه | بیشکه الله | نه خوښوی | غاوره کسان

څه وخت چه د ده قوم ده ته وویل چه غاوره کیږه مه یقیناً غاوره کسان د الله تعالیٰ خوښ نه وی

وَابۡتَغِ فِيۡمَاۤ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الۡاٰخِرَةَ وَلَا تَنۡسَ نَصِيۡبَكَ

او ولټوه | په هغه څه کښے | چه درکړی دی تا ته الله | کور د آخرت | او مه هیروه | حصه خپله

او الله تعالیٰ چه تا له کوم مالونه درکړی دی په هغے کښے د آخرت د پاره څه عمل وکړه او د دنیا په مال کښے خپله برخه

مِنَ الدُّنۡيَا وَاَحۡسِنۡ كَمَاۤ اَحۡسَنَ اللّٰهُ اِلَيۡكَ وَلَا تَبۡغِ

له دنیا نه | او نیکی کوه | لکه څنګه چه | احسان کړے دے | الله | په تا | او مه لټوه

(آخرت ته ورله) مه هیروه او لکه چه الله تعالیٰ تاسره احسان کړے دے دغسے ته هم (د خلقو سره) احسانونه کوه او په ملک

ع ۵ / ۱۰

الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ؕ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ۝۷۷ قَالَ

فساد | په زمکه کښې | بیشکه | الله | نه خوښوي | فسادکوونکي | ده وویل

کښې فساد و نه مه خوروه ، بیشکه فسادیان خلق دَ الله تعالیٰ خوښ نه دي . قارون وویل

إِنَّمَآ أُوتِيتُهُ عَلٰى عِلْمٍ عِندِي ؕ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ

بیشکه | راکړے شوے دَ ماته دا | په هغه پوهه | چه ما سره ده | آیا دے نه پوهیدو | چه الله

چه دا (مالونه) خو ماته زما دَ علم (او زما دَ لیاقت) په وجه ملاؤ دي ، آیا هغه په دے پوهه نه شو چه

قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً

هلاک کړي دي | وړاندې له ده | څومره اُمتونه | چه | هغه زیات سخت وو | له ده نه | په قوت کښې

الله تعالیٰ دَ هغه نه وړاندې دا سے ډیر اُمتونه تباه کړي دي چه دَ هغه نه په زور کښې زیات وو

وَأَكْثَرُ جَمْعًا ؕ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ۝۷۸

او زیات وو | په جمع کښې | او تپوس به نه شي کیدے | دَ دوي دَ گناهونو په حقله | له مجرمانو نه

او ملګري ئے ډیر زیات وو ، او له مجرمانو نه به دَ گناهونو په حقله تپوس پښتنه ته هیڅ حاجت نه وي

فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ ؕ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ

بیا راووتلو | دَ خپل قوم په وړاندې | په خپل پوره شان سره | وویل | هغه خلقو چه | غوښتلو ئے

نو (یوه ورځ) هغه په خپل پوره شان سره دَ خپل قوم په مخکښې راووتلو ، نو څوک چه دَ دنیا طلبګار وو هغوي وویل

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِيَ قَارُونُ ۙ

ژوندَ | دَ دُنیا | اے کاش! چه مونږ سره وے | په شان | دَ هغه څه | چه ورکړے شوي دي | قارون ته

چه اے کاش! مونږ سره هم دغسے څیزونه موجود وے لکه چه قارون ته ورکړے شوي دي

إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ۝۷۹ وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ

بیشکه دے | نصیب والا دے | لوئے | او وویل | هغه خلقو | چاته چه ورکړے شوے وو | علم | افسوس په تاسو

یقیناً دے خو ډیر خوش نصیبه دے . او څوک چه دَ علم خاوندان وُو هغوي وویل چه ستا بد نصیبو

ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ أٰمَنَ وَعَمِلَ صٰلِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰهَآ

دَ الله ثواب (اجر) | ډیر ښه دے | هغه چا دَ پاره | چه ایمان ئے راوړے وو | او عمل ئے کړے وو | نیک | او نه ملاویږي هغه (ثواب)

چه دَ الله تعالیٰ ثواب ډیر زیات غوره دے کوم چه دَ هغه کسانو نصیب کیږي چه ایمان راوړي او نیک کارونه کوي او دا خبره

إِلَّا الصّٰبِرُونَ ۝۸۰ فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ ۚ فَمَا كَانَ

مګر | صبر کوونکو ته | نو مونږ ورښخ کړل | دے | او دَ ده کور | په زمکه کښې | پس نه وُ ده

هغه چا ته ښودلے شي چه صبر کوي . نو مونږ قارون او دَ هغه ماڼۍ (دا ړه) په مزکه کښې ورښخ کړل ، نو بیا دا سے یو

لَهُ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُ مِن دُونِ اللّٰهِ ۖ وَمَا كَانَ

دَ ده دَ پاره | هیڅ یوه ډله | چه دَ ده مدد ئے کړے وے | سیوا | دَ الله نه | او نه وو دے

ټولے نه وُو چه دَ الله تعالیٰ په مقابله کښې ئے دَ ده مدد کړے وے ، او نه هغه په خپله

مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿٨١﴾ وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ

له انتقام اخستونکونه | او صبا کړه | هغه خلقو چه | چه ارمان ئے کولو | د ده د مرتبې

خپل ځان بچ کړے شو. او کوم خلق چه پرون پورې د هغهٔ په شان د جوړیدلو

بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ

پرون | وو ئیل | (چه) هائے افسوس | الله | فراخه کوی | رزق | چا د پاره

ارمانیان ؤو ووئیل چه رښتیا دی چه هم الله تعالیٰ په خپلو بندګانو کښې د چا په حقله غواړی

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا

چه غواړی | له خپلو بندګانو نه | او کموی | که چرے احسان نهٔ کولے | الله | په موږ باندې

نو روزی ورله فراخه کوی او (چا د پاره چه غواړی) کموی. که چرے په موږ باندې د الله تعالیٰ احسان نهٔ وے نو موږ

لَخَسَفَ بِنَا ؕ وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٢﴾ تِلْكَ الدَّارُ

نو هغهٔ به موږ ورننوځولی وو | هائے افسوس! | چه نهٔ کامیابیږی | کافران خلق | دا | کور

به هم په زمکه کښې ورننوځولی ؤو رښتیا دی چه کافران نهٔ کامیابیږی. دا د آخرت کور موږ هغه خلقو

الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِى الْاَرْضِ

د آخرت | موږ مقرر ؤو دا | هغه خلقو د پاره | چه نهٔ غواړی | لوئی | په زمکه کښې

د پاره مقرر ساتلے دے چه په زمکه کښې تکبر او فساد کول نهٔ

وَلَا فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٨٣﴾ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ

او نهٔ فساد | او انجام (ښهٔ) | پرهیزګارانو د پاره دے | څوک چه | راغے | په نیکئ سره

غواړی، او آخرت خو هم د پرهیزګارانو ښهٔ دے. څوک چه (د الله دربارته) نیکی راوړی

فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى

نو هغهٔ د پاره دی | بهتر | له هغې نه | او چا چه | راوړله | بدی | نو بدله به نهٔ ملاویږی

نو هغهٔ ته به د خپل عمل نه غوره بدله ورکولے شی، او څوک چه بدی ځان سره راوړی نو بد کاروکسانو ته

الَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ اِنَّ الَّذِىْ

هغه خلقو ته | چه عملونه ئے وکړل بد | مګر موافق د هغه څهٔ | چه دوی به کول | بیشکه هغه (الله) چا چه

به فقط هغه هومره بدله ورکولے شی څومره بد کارونه چه به هغوئ کول. یقیناً هغه الله چا چه په تا

فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ؕ قُلْ رَّبِّىْ

فرض کړو | په تا باندې | قرآن | خامخا واپس ګرځونکے دے تا لره | طرف د واپس کیدلو ځائے ته | ووایه | زما رب

باندې (د) قرآن (حکمونه او عمل) فرض کړے دے هم هغه به تا (اصلی) مقام ته واپس وګرځوی. (اے نبی!) ته ورته ووایه

اَعْلَمُ مَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى وَمَنْ هُوَ فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٨٥﴾

ښهٔ پوهه دے | چه څوک | راغے | په هدایت سره | او څوک دے | په ګمراهئ کښې | ښکاره

چه زما رب ښهٔ پوهیږی چه چا رښتینے دین راوړے دے او څوک په ښکاره ګمراهئ کښې پروت دے.

وَمَا كُنْتَ تَرْجُوْٓا اَنْ يُّلْقٰٓى اِلَيْكَ الْكِتٰبُ اِلَّا رَحْمَةً

او تا اُمید نهٔ لرلو | چه نازل به کړے شي | ستا طرف ته | کتاب | مګر په رحمت

او ستا خو دا اُمید نهٔ وو چه دا کتاب به در باندې نازل شي ، دا خو صرف ستا دَ

مِّنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ ظَهِيْرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ

ستا دَ ربّ | پس هیڅکله مهٔ کیږه ته | مددګار | دَ کافرانو | او دوئ دِ تا منع نهٔ کړي

رب رحمت وو نو ته هیڅرے دَ دے کافرانو پشت پناه مهٔ کوه . او هرکله چه تا ته دَ الله

عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ

دَ الله دَ آیتونو نه | پس له هغے نه | چه هرکله نازل کړے شول | ستا طرف ته | او دعوت ورکوه | طرف دَ ربّ خپل ته

حکمونه را ورسیدل اُوس ته خیال ساته چه دوئ تړے نه تا منع نهٔ کړے شي او دَ خپل رب طرف ته بلنه کوه

وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ

او ته هرګز مهٔ کیږه | له مشرکانو نه | او ته مهٔ بله | دَ الله سره | معبود بل

او په مشرکانو کښے مهٔ شاملیږه . او دَ الله تعالیٰ سره هیڅرے دَ بل معبود بلنه مهٔ کوه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۟ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ؕ

نشته دے څوک بل معبود | بے له دهٔ نه | هر څیز | هلاکیدونکے دے | دَ دهٔ دَ مخ (ذات) نه سیوا

دَ هغهٔ نه سیوا بل معبود نشته ، هر څیز فنا کیدونکے دے دَ هغهٔ نه سیوا

لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٨﴾

هم دَ دهٔ دے | حکم | او هم دَ دهٔ طرف ته | به تاسو واپس کیږئ

حکم صرف دَ هغهٔ چلیږي او تاسو ټول به ورته خامخا واپس کیږئ .

سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تِسْعٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورهٔ عنکبوت په مکه کښے نازل شو | (شروع) دَ الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښے (٦٩) ایتونه او (٧) رکوع دي

دَ الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

الٓمّٓ ﴿١﴾ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا

الٓمّٓ . | آیا خیال وکړو | خلقو | چه دوی به پریښودے شي | چه دوئ ووئیل | چه مونږ ایمان راوړو

الٓمّٓ . آیا دَ دے خلقو دا خیال دے چه په دومره قدرے وینا به پریښودے شي چه مونږ ایمان راوړے دے

وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ﴿٢﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او دوئ به | نهٔ شي آزمائیلے | او البته مونږ آزمیښت وکړو | په هغه خلقو چه | له دوی نه وړاندې وو

او دَ دوئ به نور آزمیښت نهٔ کیږي ؟ او مونږ خو دَ دوئ نه وړاندې خلق هم آزمائیلي دي

فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٣﴾

نو ضرور به معلوم (ښکاره) کړي | الله | هغه خلق چه | رښتیا ئے ووئیل | او ضرور به معلوم کړي | دروغ ویونکي

نو الله تعالیٰ به خامخا رښتیني او دروغژن خلق (جدا جدا) ښکاره کوي

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ أَنْ يَسْبِقُونَا ۚ
آیا گمان ؤکړو | هغه خلقو چه | کوی | بد کارونه | چه وړاندې به شي دوی په مونږ باندې
آیا خوک چه بد کارونه کوی د هغوئ دا خیال دے چه زمونږ نه به چرته بل خوا ؤتښتي؟
سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٤﴾ مَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ اللَّهِ
بد دی | هغه څه چه | دوی ئے فیصله کوی | خوک چه | اُمید لری | الله سره د ملاقات
ډیره غلطه اندازه ده چه دوئ ئے لګوی. خوک چه د الله تعالیٰ سره د ملاقات اُمید ساتي
فَإِنَّ أَجَلَ اللَّهِ لَآتٍ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ
نو بیشکه | مقرر شوے وخت | د الله | خامخا راتلونکے دے | او هغه | اَوریدونکے
نو (پوهه دې شي چه) د الله تعالیٰ مقرر شوے وخت ضرور راتلونکے دے او هغه هر څه اَوری په
الْعَلِيمُ ﴿٥﴾ وَمَنْ جَاهَدَ فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ ۚ
پوهه دے | او خوک چه | جهاد کوی | نو بیشکه | دے جهاد کوی | د خپل ځان د پاره
هر څه پوهه دے. او خوک چه محنت کوی نو هغه د خپل ځان (د فائدے) د پاره محنت کوی.
إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٦﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا
بیشکه | الله | بے نیازه دے | د عالمونو نه | او هغه خلقو | چه ایمان ئے راوړو
یقیناً الله تعالیٰ د ټول کائنات نه بے پروا دے. او هغه خلق چه ایمان ئے راوړو
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ
او عمل ئے وکړو | نیک | مونږ به ضرور لرے کړو | له دوئ نه | بدیانے د دوئ
او هغوئ نیک عملونه وکړل، مونږ به د هغوئ ګناهونه د هغوئ نه لرے کړو
وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٧﴾ وَوَصَّيْنَا
او مونږ به ضرور جزا ورکړو دوئ ته | ډیره ښه | د هغے (عمل) | چه دوی به کولو | او حکم وکړو مونږ
او کوم نیک عملونه چه هغوئ کول د هغے ډیره ښه بدله به ورکړو. او مونږ انسان ته
الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ
انسان ته | خپل مور پلار سره | د نیکئ کولو | او که چرے | دوی زور راچوی په تا | چه ته شریک کړے
د مور پلار سره د ښه سلوک حکم ورکړے دے او (دا حکم هم ورکړے دے چه) که هغوئ دواړه تا مجبوره کړی
بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۚ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ
ما سره | هغه څه چه | نشته دے | تا ته | د هغے | څه علم | نو د دوی اطاعت مه کوه | زما طرف ته | تاسو له واپس راتلل دی
چه ته ما سره خوک شریک جوړ کړے د کوم چه تا سره علم نشته نو د هغوئ دا خبره مه منه. تاسو ټول به ما ته پستنه راځئ
فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا
نو زه به تاسو ته ؤښایم | هغه څه | چه تاسو به کول | او کوم خلق چه | ایمان راوړی | او وے کړل
نو زه به تاسو په خپلو کړو کارونو خبروم. او خوک چه ایمان راوړی او د نیکئ کارونه

الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ۝٩ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

نیک کارونه | مونږ به ضرور داخل کړو دوی | په نیکانو کښې | او ځنې له خلقو نه | هغه څوک دي

کوي ، نو مونږ به دوی ضرور په نیکانو کښې شامل کړو ، او ځنې خلق داسې دي چه وائي

يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ

چه وائي | مونږ ایمان راوړو | په الله | بیا هر کله چه | تکلیف ورکړے شو | په (لاره د) الله کښې | (نو) وګرځول | تکلیف ورکول

مونږ په الله تعالیٰ باندې ایمان راوړے دے خو چه د الله تعالیٰ په لاره کښې ورته (لږ څیز) تکلیف ورکړے شي نو

النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ

د خلقو | په شان د عذاب د الله | او که چرے | راشي | څه مدد | ستا د رب له طرف نه

د خلقو د لاس تکلیف داسې وګڼړي لکه د الله تعالیٰ عذاب چه وي او که چرے ستا د رب له طرف نه (تاته) امداد راورسي

لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا

نو دوی به ضرور وائي | چه بیشکه مونږ وو | تاسو سره | آیا نه دے | الله | ښه پوهه | په هغه څه

نو (مومنانو ته) وائي چه مونږ خو تاسو سره وو آیا الله تعالیٰ ته هغه هر څه معلوم نه دي چه د

فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٠ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چه په سینو کښې دي | د عالمونو | او ضرور به معلوم کړي | الله | هغه خلق | چه ایمان ئې راوړو

مخلوق په سینو کښې (پټ) دي ، او کوم خلقو چه ایمان راوړے دے الله تعالیٰ به ئې ضرور ښکاره کړي

وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ۝١١ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

او ضرور به معلوم کړي | منافقان (هم) | او وائي | هغه خلق | چه کافران دي | هغه خلقو ته | چه ایمان ئې راوړے دے

او کوم چه منافقان دي هغوی به هم ضرور ښکاره کړي . او کوم خلق چه کافران دي هغوی مومنانو ته وائي چه زمونږ

اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ

چه تاسو پیروي وکړئ | زمونږ د لارے | او مونږ به اوچت کړو | ستاسو ګناهونه | او نه دي دوی | اوچتونکي

مسلک اختیار کړئ ، او ستاسو د ګناهونو پیټي زمونږ په ذمه شو ، حال دا دے چه دوی د هغوی له ګناهونو

مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝١٢ وَلَيَحْمِلُنَّ

له ګناهونو د هغوی نه | د څه څیز | بیشکه دوی | خو دروغژن دي | او خامخا به دوی اوچتوي

نه بخرے قدر له هم په ځان اخستے نه شي (بلکه) دوی سراسر دروغژن دي . او دوی به خپل پیټي هم

اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ ؗ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

خپل بارونه | او بارونه | سره د بارونو د خپلو | او ضرور به له دوی نه پوښتنه کولے شي | په ورځ د قیامت

اوچت کړي وي . او د خپلو سره نور پیټي هم ، او د قیامت په ورځ به ترے نه د دے

عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝١٣ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ

له هغه څه نه | چه دوی به دروغ جوړول | او بیشکه | مونږ ولیږلو | نوح | د ده د قوم طرف ته | نو دے پاتے شو

دروغو جوړولو په حقله ضرور تپوس کیږي . او مونږ نوح خپل قوم ته ولیږلو نو هغه په

فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ؕ فَاَخَذَهُمُ الطُّوْفَانُ
په دوی کښې | زر کاله | کلونه | مګر | پنځوس | کاله (کم) | پس ونیول دوی | طوفان
کښې پنځوس کم زر کاله پاتې شو ، نو بیا هغوی طوفان راونیول
وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ۝۱۴ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ وَجَعَلْنٰهَآ
او دوی | ظالمان وو | بیا مونږ نجات ورکړو ده ته | او کشتۍ والو ته | او جوړه کړه مونږ دا
او دغه خلق خپله ظالمان وو ، بیا مونږ هغه او په کشتۍ کښې سواره ټول بچ کړل ، او دا واقعه مو د ټولې
اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝۱۵ وَاِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللّٰهَ
نخښه | د پاره د عالمونو | او ابراهیمؑ | هر کله چه ده ووئیل | خپل قوم ته | چه عبادت کوئ | د الله
دنیا د پاره عبرت وګرځوله ۔ او ابراهیمؑ مو ولیږلو چه خپل قوم ته ئې ووئیل چه د الله تعالیٰ عبادت کوئ
وَاتَّقُوْهُ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝۱۶ اِنَّمَا
او ویرېږئ ده نه | دا | ډیره ښه ده | تاسو د پاره | که چرې | تاسو پوهېږئ ؟ | بیشکه
او د هغهٔ نه ویره کوئ ، دا خبره تاسو د پاره غوره ده که تاسو پوهېږئ ؟ تاسو الله تعالیٰ
تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا وَّتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ
تاسو عبادت کوئ | سیوا | د الله نه | د بتانو | او تړئ تاسو | دروغ | بیشکه | هغه خلق چه
هیر کړے دے او د بتانو په عبادت پسې شوي یئ او د ځان نه دروغ تراشئ ، تاسو چه د الله تعالیٰ
تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا
تاسو ئې بندګي کوئ | سیوا | د الله نه | دوی اختیار نهٔ لري | تاسو د پاره | د رزق | پس تاسو ولټوئ
نه سیوا د نورو چا عبادت و نه کوئ نو هغوئ تاسو له هیڅ روزي درکولے نهٔ شي نو خپل رزق
عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝۱۷
د الله سره | رزق | او عبادت وکړئ د ده | او شکر وکړئ | د ده | هم د ده طرف ته | تاسو له واپس تلل دي
د الله تعالیٰ سره ولټوئ او د هغهٔ عبادت کوئ او د هغهٔ شکر ادا کوئ او هغهٔ ته به پسته ورځئ ۔
وَاِنْ تُكَذِّبُوْا فَقَدْ كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ؕ وَمَا
او که چرے | دروغ ګڼړئ تاسو | نو بیشکه دروغ ګڼړلي وو | ډیرو امتونو | له تاسو نه وړاندې (هم) | او نهٔ دي
او که چرے تاسو (حقه خبره) دروغ ګڼړئ نو (دا څهٔ نوے خبره نهٔ ده) تاسو نه وړاندې هم ډیرو قومونو دروغ ګڼړلې ده ، او د
عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝۱۸ اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ
په پیغمبر | مګر پیغام رسول | ښکاره | ایا نهٔ دي کتلي دوی | چه څنګه | په اول ځل پیدا کوي
پیغمبر په ذمه خو بس خپل پیغام ښکاره رسول دي ۔ ایا دے خلقو ته معلومه نهٔ ده چه الله تعالیٰ څنګه په اول ځل
اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝۱۹ قُلْ
الله | مخلوق | بیا به دو باره پیدا کړي دا | بیشکه دا | الله ته | اسان دي | ووایه
مخلوق پیدا کوي او بیا به ئې څنګه سر دو باره پیدا کوي ؟ دا کار الله تعالیٰ ته ډیر اسان دے ۔ ووایه

سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللّٰهُ
وګرځئ | په زمکه کښې | بیا وګورئ | چه څنګه | په اول ځل پیدا کړو | مخلوق | بیا به الله
چه په ملک کښې وګرځئ نو وګورئ چه الله تعالیٰ څنګه په اول ځل مخلوق پیدا کړے دے، بیا به هم الله

يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۚ ﴿۲۰﴾
پیدا کړی | پیدا کول | په دویم ځل | بیشکه الله | په هر څیز باندې | قادر دے۔
مخلوق په دویم ځل پیدا کړی، بیشکه الله تعالیٰ په هر څیز باندې قدرت لری۔

يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ﴿۲۱﴾
ډے به عذاب ورکړی | چاله چه وغواړی | او رحم به وکړی | په چا چه وغواړی | او د دهٔ طرف ته به | تاسو بیرته ګرځولے شئ
هغه چاله چه غواړی عذاب ورکوی او چا باندې چه غواړی رحم کوی او هغهٔ ته به تاسو ټول بیرته ورځئ۔

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ ۫ وَمَا
او نهٔ یئ | تاسو | عاجزکوونکی | په زمکه کښې | او نهٔ | په آسمان کښې | او نشته دے
او تاسو نهٔ په زمکه او نهٔ د آسمان د پاسه د هغهٔ مقابله کولے شئ۔ او د الله تعالیٰ

لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۲۲﴾ وَالَّذِيْنَ
تاسو د پاره | سیوا | د الله نه | څوک دوست | او نهٔ (څوک) مددګار | او کوم خلق چه
نه سیوا هیڅوک ستاسو کارساز او مددګار نشته۔ او څوک چه د

كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖٓ اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِىْ
منکر دی | د آیتونو | د الله | او د دهٔ د ملاقات | هم دا خلق | نا امیده شول | زما د رحمت نه
الله تعالیٰ د آیتونو او د هغهٔ د ملاقات نه انکار کوی، دا هسے خلق زما د رحمت نه نا امید دی۔

وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۳﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ
او هم دے خلقو د پاره دے | عذاب | دردناک | پس نهٔ وو | جواب | د دهٔ د قوم
او هم دغه خلق دی چه دردناک عذاب ورله مقرر دے۔ نو د ابراهیم د قوم د طرف نه بس دا (یو)

اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ
مګر دا چه | دوی ووئیل | تاسو وژنئ دے | یا وسوزوئ دے | پس خلاص ورکړو دهٔ ته الله | له اور نه
جواب وو چه دے مړ کړئ یا ئے وسوزوئ مګر الله تعالیٰ هغه د اور د عذاب نه بچ کړو

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ
بیشکه | په دے کښې | نخښې دی | د پاره د هغه قوم | چه ایمان راوړی | او دهٔ ووئیل | بیشکه تاسو نیولی دی
بیشکه چه په دے کښې د مؤمنانو د پاره ډیرے نخښې دی۔ او ابراهیم ووئیل چه تاسو د الله تعالیٰ

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ
سیوا | د الله نه | بتان | (په وجه د) دوستئ | په خپل مینځ کښې | په ژوند د دنیا کښې
نه بغیر ځان له چه کوم بتان خوښ کړی دی نو دا ستاسو د دنیا د ژوندون محبت په وجه دی،

ع ۲

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ
بیا به | په ورځ | دَ قیامت | انکار کوی | ځنې له تاسو نه | دَ ځنو | او لعنت به کوی
بیا به دَ قیامت په ورځ دَ یو بل مخالف شئ ، او په یو بل به
بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۚ وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ
په تاسو کښې ځنې | په ځنو باندې | او ځائے به ستاسو | دوزخ وی | او نهٔ (به وی) | تاسو دَ پاره
لعنتونه وایئ ، او ستاسو ټیکاڼه به دوزخ وی ، او هیڅوک به در سره
مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ
څوک مددګار | پس ایمان راوړو | په دهٔ | لوط | او وئے وئیل | بیشکه زهٔ | هجرت کوونکے یم
امداد نهٔ کوئ ، نو لوط دَ هغهٔ تصدیق وکړو ، او ابراهیم ووئیل چه زهٔ دَ خپل رب دَ پاره وطن
اِلٰى رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ
خپل رب طرف ته | بیشکه هم دے دے | غالب | دَ حکمت خاوند | او مونږ عطا کړل | دهٔ ته | اسحاق
پریږدم ، هغه ډیر زبردست دے دَ حکمتونو خاوند دے . او مونږ ورته (ځوئے) اسحاق او (نوسے)
وَيَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ
او یعقوب | او کیښودلو مونږ | دَ دهٔ په اولاد کښې | نبوت | او کتاب
یعقوب ورکړو ، او دَ هغهٔ په اولاد کښې مو دَ پیغمبرئ او دَ کتاب سلسله جاری وساتله
وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ
او ورکړو مونږ دهٔ ته | دَ دهٔ اجر | په دنیا کښې | او بیشکه دے به | په آخرت کښې
او هغهٔ له مو په دُنیا کښې هم غټ اجر ورکړو ، او په آخرت کښې به (هم) په نیکانو
لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٢٧﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ
له صالحانو نه وی | او (مونږ ولیږلو) لوط | هر کله چه دهٔ ووئیل | خپل قوم ته | بیشکه تاسو | کوئ
خلقو کښې شمیر وی . او لوط مو پیغمبر کړو کله چه هغهٔ خپل قوم ته ووئیل چه آیا تاسو داسے دَ
الْفَاحِشَةَ ۡ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾
کار دَ بے حیایئ | چه نهٔ دے کړے وړاندې له تاسو | دا کار | هیڅ کس | له جهان دَ خلقو نه .
بے حیایئ کار کوئ چه تاسو نه وړاندې په ټوله دُنیا کښې هیچرے بل چا نهٔ دے کړے ؟
اَىِٕنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ڏ
آیا تاسو (خلق) | راځئ | سړو ته ؟ | او وهئ | لارے
تاسو دَ نارینوُ سره بدفعلی کوئ ، او لارے شوکوئ
وَتَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ۭ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ
او تاسو کوئ | په خپلو محفلونو کښې | خراب کارونه | پس نهٔ وو | جواب | دَ دهٔ دَ قوم
او په ډک مجلس کښې نامناسب کارونه کوئ . نو دَ قوم جواب ورته بس یوازے

وقف لازم

إِلَّآ أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللَّهِ

مګر | داچه | دوی وویل | راوله په موږ | عذاب | دَ الله

دا وو چه خو (لاس شه) ته دَ الله تعالیٰ هغه عذاب راوله

إِن كُنتَ مِنَ الصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ انصُرْنِي

کهٔ چرے یئے ته | له رښتیا ویونکو نه | دهٔ وویل | اے زمار به! | مدد دا کړه ما ته

کهٔ چرے ته په خپله وعده کښے رښتینے یئے؟ لوط دعا وکړه چه اے زمار به! ته دَ دے

عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ

په قوم | دَ مفسدانو | او هرکله چه | راغلے | زموږ رالیږلے شوے (فرښتے) | ابراهیم ته

فساد یانو په مقابله کښے زما مدد وکړه. او څه وخت چه زموږ فرښتو ابراهیم ته (دَ خوئے پیدا کیدو)

بِالْبُشْرَىٰ قَالُوٓا إِنَّا مُهْلِكُوٓا أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ إِنَّ

په زیری سره | (نو) دوی وویل | بیشکه موږ | هلاکوونکی یو | دَ دے کلی اوسیدونکو له | بیشکه

زیرے یوړو نو دائے هم ورته وویل چه موږ خو دَ دغے کلی خلق تباه کول غواړو ځکه چه

أَهْلَهَا كَانُوا ظَٰلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا قَالُوا

اوسیدونکی دَ دے | وُو | ظالمان | دهٔ وویل | بیشکه | په هغے کښے | لوط (هم) دے | دوی وویل

دغه خلق ډیر بد عمله دی. ابراهیم ورته وویل چه هلته خو لوط اوسیږی، هغوی وویل

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ

موږ | ښهٔ پوهه یُو | په هغه چاچه | په هغے کښے دی | موږ به ضرور نجات ورکړو دهٔ ته | او دَ دهٔ کور خلقو ته

چه موږ ته ښهٔ معلوم دی چه په هغے کښے څوک څوک دی؟ موږ به لوط او دَ هغهٔ دَ کور خلق ضرور بچ کړو

إِلَّا امْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ الْغَٰبِرِينَ ﴿٣٢﴾ وَلَمَّآ أَن جَآءَتْ

سیوا | دَ دهٔ دَ بی بی نه | وی به هغه | له وروستو پاتے کیدونکو نه | او هرکله چه | راغلے

خو یوازے ښځه به ئے په پاتے کیدونکی کښے وی، او هر کله چه لوط ته زموږ فرښتے

رُسُلُنَا لُوطًا سِيٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالُوا

زموږ فرښتے | لوط ته | نو غمژن شو | په وجه دَ دوی | او تنګ شو | دَ دوی په وجه | په زړهٔ کښے | او دوی وویل

راغلے نو هغه پرے غمژن شو او زړهٔ ئے لنې تنګ شو او فرښتو وویل

لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا

مهٔ ویریږه | او مهٔ غمژن کیږه | بیشکه موږ به | نجات درکړونکی یو تا ته | او ستا دَ کور خلقو ته | سیوا

چه ته اندیښنه او غم مهٔ کوه، موږ به تا او ستا دَ کور خلق ضرور بچ کړو، خو بیوه

امْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغَٰبِرِينَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهْلِ

ستا دَ بی بی نه | وی به هغه | له وروستو پاتے کیدونکو نه | بیشکه موږ | نازلوونکی یو | په اوسیدونکو

ستا ښځه چه دَ نورو پاتے کیدونکو سره به وروستو پاتے کیږی، موږ به دَ دے کلی په خلقو باندے

ع ١٥

هٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۝۳۴

دَ دِے کلی | عذاب | له آسمان نه | په دے وجه چه | دوی به بد کاری کوله

دَ بره نه عذاب راکوزوو ، ځکه چه دوی بدعمله دی

وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝۳۵

او بیشکه مونږ پریښودله | له دغه کلی نه | نخښه | واضحه | دَپاره دَهغه خلقو | چه دَ عقل نه کاراخلی

او مونږ دَ دغے (تباه شوی) کلی څخه ښکاره نخښے دَ عقلمندو دَپاره تراوسه پریښودی دی

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۙ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او (مونږ ولیږلو) دَمدین طرف ته | دَ دوی ورور | شعیب | نو دهٔ ووئیل | اے زما قومه! | عبادت وکړئ دَ الله

او دَمدین خلقو ته مو دَهغوئی ورور شعیبؑ وَلیږلو ، نو هغهٔ ورته ووئیل اے زما قومه! تاسوٚ الله تعالیٰ عبادت کوئ

وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝۳۶

او اُمید لرئ | دَ ورځے | دَ آخرت | او مهٔ ګرځئ تاسو | په زمکه کښے | فساد کوونکی .

او دَ آخرت دَ ورځے اُمید ساتئ او په ملک کښے فساد مهٔ کوئ .

فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِىْ دَارِهِمْ

پس دوٚ دروغژن وګڼړلوده | پس ونیول دوی لره | زلزلے | پس دوی شول په وخت دَصبا | په خپلو کورونو کښے

نو هغوئی شعیبؑ دروغژن وګڼړلو نو زلزلے راګیر کړل ، او هغوئ سحر په خپلو کورونو کښے پړمخے

جٰثِمِيْنَ ۝۳۷ وَعَادًا وَّثَمُوْدَا۟ وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ

پړمخے پریوتلی | او (هلاک مو کړل) عاد | او ثمود | او (دا) واضح شو | تاسوته | دَ دوئی له کورونو نه

پراته وو . او عاد او ثمود مو هلاک کړل او دغه تباهی خوږ تاسو ته دَهغوئی باقی پاتے کورونو نه ښکاره ده

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ

او ښائسته کړی وو دَ دوی دَپاره | شیطان | عملونه دَ دوی | پس دهٔ منع کړی وو دوی | دَ لارے نه

او شیطان ورته خپل (بد) کارونه ښائسته ښکاره کړی وو نو هغوئی ئے دَ سمے لارے نه منع کړی وو

وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ۝۳۸ وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ

او وو دوی | هوښیار | او قارون | او فرعون | او هامان (موهم هلاک کړل)

سره دَ دے چه هغوئی ډیر هوښیاران وو ، او قارون او فرعون او هامان موهم هلاک کړل

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا فِى الْاَرْضِ

او بیشکه راغلے وو دوی ته | موسیٰؑ | په واضحه نخښو سره | نو دوی تکبر وکړو | په زمکه کښے

او هغوئی ته موسیٰؑ ښکاره نخښے ورسره ، خو هغوئی ملک کښے سرکشی کوله

وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ۝۳۹ فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ

او نهٔ | وو دوی | وړاندے وتونکی | پس هر یو | مونږ ونیولو | دَ دهٔ په ګناه | نو په دوی کښے (څوک)

او هغوئی زمونږ (دَ نیولو) نه وړاندے تښتیدے شول . نو مونږ یو دَ هغوئی دَګناهونو په وجه ونیول ، نو په څوبانو

مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ

هغه دي | چه راولیږلو موږ | په هغوی باندې | د کاڼو باران | او ځنې له دوی نه | هغه څوک وو | چه ونیولو هغه لره | سخت آواز

خو موږ کاڼي ـــــ ورول ، او څوک یوه چغې راونیول .

وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ

او ځنې له دوی نه | هغه څوک وو | چه ښکته بوتلل موږ | هغوی | په زمکه (کښې) | او ځنې له دوی نه | هغه څوک وو

او څه داسې وو چه موږ هغوی په زمکه ورننویستل ، او څه خلق موږ غرق

اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

چه غرق کړل موږ | او نه دے | الله (داسې) | چه ظلم ئې کولو په دوی | لیکن | دوی به | په خپلو ځانونو

کړل ، او الله تعالیٰ په هغوی ظلم نه دے کړے بلکه هغوی په خپله په ځانونو

يَظْلِمُوْنَ ﴿٤٠﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ

ظلم کولو | مثال | د هغو خلقو | چه ونیول | سیوا | د الله نه | (نور) دوستان

ظلم کولو ، کوم خلقو چه الله تعالیٰ پرېښودے دے او نور معبودان ئې جوړ کړي دي

كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ۚ وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ

په شان د مثال | د جولاګۍ دے | چه جوړ ئې کړو | یو کور | او بیشکه | ډېر زیات کمزورے د کورونو نه

د هغوی مثال د جولاګۍ دے چه هغې ځان له یوه جاله جوړه کړه ، او په کورونو کښې کمزورے کور

لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

کور | د جولاګۍ دے | کاش ! | دوی پوهیدلے | بیشکه الله | پوهه دے

د جولاګۍ کور دے ، کاش ! هغوی په دې خبره پوهیدلے . بیشکه الله تعالیٰ ته هغه ټول څیزونه

مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٤٢﴾

په هغه څه چه دوی ئې بلي | سیوا د الله نه | هر څیز چه وي | او دے | غالب | خاوند د حکمت دے

معلوم دي چه دوی ئې د الله تعالیٰ نه بغیر بلنه کوي او هغه د قدرت او د حکمتونو خاوند دے .

وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا

او دا | مثالونه دي | موږ بیانوو دا | خلقو د پاره | او نه پوهیږي په دې باندې | مګر

او دا هغه مثالونه دي چه موږ ئې خلقو ته بیانوو . او په دې باندې هغه خلق پوهیږي چه

الْعٰلِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ

پوهه خلق | پیدا کړل | الله | آسمانونه | او زمکه | په رښتیا سره

د پوهې خاوندان دي . الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه ډېر په مناسبه طریقه پیدا کړي دي .

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٤﴾

بیشکه | په دې کښې | نخښه ده | مؤمنانو د پاره

په دې کښې مؤمنانو د پاره عنت دلیل پروت دے .

وقف لازم

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

اُتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ

تلاوت کوه | د هغه څه | چه وحی ئې شوه | ستا طرف ته | له کتاب نه | او قائم کړه | مونځ

(اے نبی!) کوم کتاب چه تا ته د وحی په ذریعه راغلے دے هغه لوله ، او د مونځ پابندی ساته

اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ

بیشکه | مونځ | منع کوی | د بے حیایئ | او له ناخوښه کارونه | او خامخا یادول | د الله

یقینًا مونځ د خرابو او د بے حیایئ د کارونو نه منع کوی ، الله تعالیٰ یادول ډیره

اَكْبَرُ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَلَا تُجَادِلُوْۤا اَهْلَ الْكِتٰبِ

ډیر لوئے دی | او الله | پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ئې کوئ | او بحث مه کوئ | د اهل کتابو سره

غټه خبره ده ، او الله تعالیٰ ستاسو په کارونو پوهه دے ، او اهل کتابو سره په سختئ نه بلکه

اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَقُوْلُوْۤا

مګر | په داسے طریقه | چه هغه ډیره ښه وی | سیوا | د هغو خلقونه | چه ظالمان دی | له دوی نه | او وایئ چه

په مناسبه طریقه سره بحث کوئ . هن! څوک چه په کښے زیاتے وکړی او تاسو داؤ وایئ

اٰمَنَّا بِالَّذِیْۤ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَاُنْزِلَ اِلَیْكُمْ وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ

مونږ ایمان راوړو | په هغه څه | چه نازل کړے شول | په مونږ | او چه نازل کړے شول | په تاسو | او زمونږ معبود | او ستاسو معبود

چه زمونږ په هغه کتاب هم ایمان دے چه مونږ ته راغلے دے او په هغه کتاب هم چه تاسو ته راغلے دے او زمونږ او ستاسو معبود

وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنَاۤ اِلَیْكَ

یو دے | او مونږ | هم د هغه | فرمانبرداریو | او دغه شان | مونږ نازل کړو | ستا طرف ته

یو دے ، او مونږ د هغه قول حکمونه منو ، او هم دغسے مونږ تا ته دا کتاب راولیږلو

الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ

کتاب (قرآن) | پس هغه خلق چه | ورکړے دے مونږ هغوی ته | کتاب | هغوی ایمان راوړی | په هغے | او ځنے

نو چا ته چه مونږ (مخوا) کتاب ورکړے وو اوس هغوی په دے کتاب (هم) ایمان راوړی ، او په دوی

هٰۤؤُلَآءِ مَنْ یُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَمَا یَجْحَدُ بِاٰیٰتِنَاۤ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۷﴾

له دوی نه | هغه څوک دی چه ایمان راوړی | په هغے | او نه | کوی انکار | زمونږ له آیتونو نه | مګر | کافران

(مشرکانو) کښے هم ځنے خلق په دے کتاب ایمان راوړی او زمونږ د آیتونو نه خود کافرانو نه بغیر نور څوک انکار نه کوی

وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِیَمِیْنِكَ

او نه ئې لوستلو تا | له دے نه وړاندې | څه کتاب | او نه تا لیکلو هغه | په خپل ښی لاس

او د دے نه وړاندې نه چرے تا کتاب لوستلے وو ، او نه دې په خپل ښی لاس کتاب لیکلے شو

اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۴۸﴾ بَلْ هُوَ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ

په دے صورت کښے | ضرور به شک کولو | دروغژن کوونکو | بلکه | هغه (قرآن) | آیتونه دی | واضحه

کنی دے باطل پرستو به درباندې شکونه کول . بلکه دا کتاب خو ښکاره دلیلونه دی

فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ ۗ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا

په سینو کښې | دَ هغو کسانو | کوم چې ورکړې شو | علم | او نه | کوی انکار | زمونږ له آیتونو نه | مګر

دَ هغه خلقو په سینو کښې کوم له چه علم ورکړې شوے دے ۔ او زمونږ دَ آیتونو نه څوک نه ښلکه

الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۗ

ظالمان | او دوی وویل | ولے را ونه لیږلے شوے | په دهٔ بانډې | نخښې | دَ دهٔ دَ رب له طرف نه

ظالمان انکار کوی ۔ او دوی وائی چه په دے پیغمبر بانډې دَ خپل رب له طرف نه څهٔ (غیبی) نخښې ولے را نغلے؟

قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ۗ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥٠﴾ اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ

ووایه | بیشکه | نخښې | دَ الله سره دی | او بیشکه | زهٔ | ویروونکیم | ښکاره | آیا کافی نه ده دوی ته

ورته ووایه چه نخښې خو دَ الله تعالیٰ په قبضه کښې دی او زهٔ خو یو ویروونکے یم چه صفا صفا وینا کوم ۔ آیا دوی له دا خبره

اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ۗ اِنَّ

چه مونږ | نازل کړے دے | په تا بانډې | دا کتاب (قرآن) | چه لوستلے شی | دوی ته | بیشکه

کافی نه ده چه مونږ تا ته دا کتاب را لیږلے دے چه دوی ته لوستلے شی؟ بیشکه چه په

فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾ قُلْ كَفٰى

په دے کښې | رحمت دے | او نصیحت | دَ پاره دَ هغه قوم | چه یقین کوی | ووایه | بس دے

دے کتاب کښې دَ ایماندارو دَ پاره رحمت او نصیحت پروت دے ۔ (اے نبی!) ته ورته ووایه

بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

الله | زما په مینځ کښې | او ستاسو په مینځ کښې | ګواه | هغه پوهیږی | په هغه څهٔ | چه په آسمانونو

چه یوازے الله زما او ستاسو تر مینځه ګواهئ له بس دے ۔ هغهٔ ته دَ آسمانونو او دَ زمکے هر څهٔ معلوم

وَالْاَرْضِ ۗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ

او زمکه کښې دی | او کوم خلق چه | ایمان راوړی | په دروغو بانډې | او انکاریٔ وکړو | دَ الله | هم دوی دی

دی ۔ او څوک چه په ناحقو باور ساتی او دَ الله تعالیٰ نه انکار کوی نو هم دغه

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ۗ وَلَوْلَآ اَجَلٌ

نقصان موندونکی | او دوی له تا نه زر غواړی | عذاب | او که چرے نه وے | وخت

خلق تاوانیان دی ۔ او دا خلق دَ عذاب په غوښتلو کښې تندی کوی ، او که چرے (دَ دوی) راتلو) نه دَ هر

مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ۗ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٣﴾

مقرر | نو خامخا به راغلے وو په دوی | عذاب | او خامخا به راشی په دوی | ناګهانه | او دوی به | نهٔ وی پوهه

شی) وخت مقرر نهٔ وے نو په دوی بانډې به عذاب راغلے وو او عذاب به په دوی ناګهانه راشی او دوی ته به خبر هم نهٔ وی

يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ۗ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ ۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٤﴾

دوی زر غواړی له تا نه | عذاب | او بیشکه | دوزخ | راګیر کړی دی | کافران

دوی په تا بانډې دَ عذاب راتلو تلوار کوی ، او په دے کښې شک نشته چه دَ کافرانو نه به جهنم راتاویږی

يَوْمَ يَغْشٰهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ
په کومه ورځ | چه پټ به کړي دوی لره | عذاب | د دوی د پاسه نه | او د دوی د پښو لاندې نه
په کومه ورځ چه عذاب به پرے د بره نه او د پښو د لاندې نه راخور شي

وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۵۵ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا
او وبه وائي الله | وڅکئ (مزه) | د هغه څه | چه تاسو به کول | اے زما بندګانو! | چه | ایمان مو راوړے دے
او الله تعالیٰ به ورته ووائي چه تاسو چه څه کول د هغے خوند وڅکئ ۔ اے زما ایماندارو بندګانو!

اِنَّ اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ۵۶ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ
بیشکه | زما زمکه | ارته ده | پس خاص زما | عبادت کوئ | هر کس | څکونکے دے (مزه)
بیشکه زما زمکه ډیره وسیع ده نو تاسو خالص زما عبادت کوئ ۔ هر ژوندے به یو ځل خامخا د مرګ خوند

الْمَوْتِ ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ۵۷ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا
د مرګ | بیا به | زمونږ طرف ته | تاسو واپس راګرځولے شئ | او کوم خلق چه | ایمان راوړی | او عملونه ئے وکړل
څکی ، بیا تاسو ټول به ماته پسته راځئ ۔ او چا چه ایمان راوړے دے او نیک کارونه

الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا
نیک | مونږ به ضرور ځائے ورکړو دوی ته | د جنت | په بالاخانو (کښې) | چه بهیږی به | لاندې د هغے نه
کوی مونږ به ورله د جنت په بالاخانو کښے ځائے ورکړو چه د هغے لاندې به ولے

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۵۸ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا
نهرونه | همیشه به وی دوی | په هغے کښے | څه ښه | اجر دے | د عمل کوونکو | کوم خلق چه | صبر وکړو
بهیږی تل ترتله به په کښے اوسیږی د (نیک) عمل کوونکو بدله ډیره ښه ده (یعنی) کوم چه صبر وکړو

وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۵۹ وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ
او په خپل رب باندې | توکل کوی | او څومره | ژنده سرے دی | چه نه وچتوی
او په خپل رب باندې توکل کوی ۔ او ډیر داسے ژنده سرشته چه خپل ځان له روزی سنبالہ

رِزْقَهَا اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا وَاِيَّاكُمْ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۶۰
خپله روزی | الله | رزق ورکوی هغوی ته | او تاسو ته هم | او هغه | اوریدونکے | پوهه دے ۔
نه ساتی ، الله تعالیٰ هغوی له هم روزی ورکوی او تاسو له هم ، او هغه هرڅه اوری په هر څه پوهه دے

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ
او که چرے | تپوس وکړے ته له دوی نه | چه چا | پیدا کړل | اسمانونه | او زمکه | او په کار ئے ولګول
او که چرے ته ترے نه تپوس وکړے چه هغه ذات څوک دے چه اسمانونه او زمکه ئے پیدا کړی دی او نمر او

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۶۱ اَللّٰهُ
نمر | او سپوږمئ | ضرور به ووائی دوی | چه الله | بیا کوم خوا | دوی اړولی روان دی؟ | الله
سپوږمئ ئے په کار لګولی دی؟ نو دوی به ضرور ووائی چه الله نو بیا دوی کوم خوا اړولی روان دی؟ الله

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ

فراخه کوی | روزي | دهغه چاچه | دے ئے خوابړی | له خپلو بندګانو نه | او تنګوی | چاد پاره (چه غواړی)

هغه ذات دے چه په خپلو بندګانو کښې په خپله خوښه د چا روزي فراخه کړی او د چا روزي تنګوی

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ

بیشکه | الله | په هر | څیز | پوهه دے | او که چرے | تاسو تپوس وکړئ له دوئ نه | چه چا | رانښکته کړے

بیشکه الله تعالیٰ په هر څه ډیر ښه پوهه دے. او که ته د دوئ نه تپوس وکړے چه چا د بره نه

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا

له آسمان نه | او به | بیائے ژوندئ کړله | په دے سره | زمکه | پس | د دے له مرګ نه

او به راؤوروے ، نو مزکه ئے پرے د مره کیدو نه پس بیا را ژوندئ کړه ؟

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٣﴾

نو دوی په ضرور ووائی | الله | ووایه | ټول تعریفونه الله لره دی | بلکه | اکثر له دوی نه | نه پوهیږی

نو دوئ به ووائی چه الله ته ووایه چه ټول تعریفونه الله د پاره دی، خو په دوئ کښې اکثر کسان نه پوهیږی.

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَاِنَّ الدَّارَ

او نه دے | دا | ژوند | د دنیا | مګر | لوبے | او تماشه | او بیشکه | کور

او د دُنیا دا ژوند د لوبو او د تماشو نه بغیر نور هیڅ حقیقت نه لری او اصل ژوند خو

الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٤﴾ فَاِذَا رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ

د آخرت | هم دا دے | (اصل) ژوند | کاش | دوی پوهیدلے | بیا هر کله چه | دوی سواره شی | په کشتئ کښے

د آخرت دے، کاش! چه دوئ پوهیدلے. نو هر کله چه دوئ په کشتئ کښے سواره

دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ

نو دوئ بلی | الله | خالص کوونکی | د پاره د دهٔ | عبادت | بیا هر کله چه | نجات ورکړی دوی ته

شی نو بیا په خالص اعتقاد سره د الله پاک بلنه کوی. خو څهٔ وخت چه مونږ ئے اوچے

اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚ

طرف د اوچے ته | نو ناګهانه دوی | شرک کوی | چه دوی انکار وکړی | د هغه څهٔ | چه مونږ ورکړی دی دوی ته

غاړے ته راخلاص کړو نو فوراً الله تعالیٰ له شریکان راپیدا کړی نو څهٔ چه مونږ دوی له ورکړی دی د هغے ناشکری کوی.

وَلِيَتَمَتَّعُوْا ٭ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا

او چه دوی فائده واخلی | پس زر به | دوی ته معلومه شی | آیا دوی نه دی لیدلی | چه مونږ جوړ کړو

او د پاره د دے چه خوندونه مزے واخلی نو ډیر زر به (په دوئ) پوهه شی ، آیا دوئ چرے غور نهٔ دے کړے چه مونږ حرم

حَرَمًا اٰمِنًا وَّيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ؕ اَفَبِالْبَاطِلِ

حرم | د امن والا | او تښتولے شی | خلق | چار چاپیره د دوی نه | پس آیا دوی باطل باندې

د امن ځائے ګرځولے دے. او د ګیر چاپیره (علاقو) نه خلق (په زوره) بهر د یستلے شی نو آیا دوئ بیا هم په

ع ۶ / ۱۲

وقف لازم

يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَكْفُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

ایمان راوړی | او په نعمت دَ الله | ناشکری کوی | او څوک | زیات ظالم دے | له هغه چانه

با طلو معبودانو باندې ایمان راوړی او دَ الله تعالیٰ دَ نعمتونو ناقدری کوی. او دَ هغه چانه عنت ظالم څوک کیدے شی

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهٗ

چه وتړی | په الله باندې | دروغ | یا دروغژن کړی | حق | هر کله چه | هغه راشی ده ته

چه په الله تعالیٰ باندې دروغ وتړی ، یا چه حقه خبره ورته ورسیږی نو هغې ته دروغ دوائی

اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِيْنَ جٰهَدُوْا

آیا نه دے | په دوزخ کښې | ځائے | دَ پاره دَ کافرانو | او کومو خلقو چه | محنت وکړو

آیا دَ کافرو ټیکاؤنړه به په دوزخ کښې نهٔ وی ؟ او څوک چه زمونږ دَ دین په لاره کښې

فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٦٩﴾

زمونږ په لاره کښې | خامخا به مونږ وښایو هغوئی ته | لارے خپلے | او بیشکه الله | سره دے | دَ نیکانو

کوشش کوی نو مونږ به ورته خپلے لارے وښایو او بیشکه الله تعالیٰ نیکانو خلقو سره دے .

سُوْرَةُ الرُّوْمِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سِتُّوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة روم په مکه کښې نازل شوی او په | (شروع) دَ الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښې ۶۰ ایتونه او ۶ رکوع گانے دی

دَ الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

الٓمّٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ﴿٢﴾ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ

الٓمّٓ | مغلوب شول | رومیان | په ډیر نږدے | زمکه کښې | او دوی به

الٓمّٓ . رومیانو (دَ شام دَ ملک) په نږدے علاقه کښې (دَ ایران دَ لاسه) ماتے وکړه او هغوئی به دَ دے

مِّنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ﴿٣﴾ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ؕ

پس | دَ مغلوبه کیدو نه | غالب کیږی | په څو | کالو کښې

ماتے نه پس په یو څو کاله کښې دننه دننه بیا غالب شی .

لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ ؕ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ

هم دَ الله په اختیار کښې دی ټول کارونه | وړاندې له دے نه | او پس له دے نه | او په دغه ورځ به | خوشحاله وی

وړاندې هم اختیار دَ الله تعالیٰ وو او وروستو هم (اختیار) دَ هغه دے ، او په دغه ورځ به مسلمانان

الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿٤﴾ بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ

مؤمنان | په مدد دَ الله | دے مدد ورکوی | چا ته چه | وغواړی | او دے

خوشحاله شی دَ الله تعالیٰ په امداد . هغه چه دَ هر چا په حقله وغواړی نو مدد ورکړی . او هغه زبردست

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٥﴾ وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ

غالب | مهربان دے | وعده ده دَ الله | خلاف نهٔ کوی | الله | دَ خپلے وعدے

دے رحم کوونکے دے . دا دَ الله تعالیٰ وعده ده ، الله تعالیٰ دَ خپلے وعدے نه خلاف هیڅ رے نهٔ کوی.

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا

او لیکن | اکثر | خلق | نهٔ پوهیږی | دوی پیژنی | ښکاره (حالت)

خو اکثر خلق په دے نهٔ پوهیږی۔ دا خلق خو بس دَ دنیا دَ ژوند په

مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٧

دَ ژوند | دَ دنیا | او دوی | له آخرت نه | بے خبره دی

ښکاره مخ پوهیږی، او دَ آخرت نه بالکل ناخبره پاتے دی۔

اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۗ مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ

آیا نهٔ | کوی غور دوی | په خپلو زړونو کښے | چه نهٔ دی پیدا کړی | الله | آسمانونه

آیا دوی په خپلو زړونو کښے دا فکر نهٔ دے کړے، چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه او دَ دے دواړو

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى

او زمکه | او څهٔ چه | دَ دے دواړو په مینځ کښے دی | مګر | په درست تدبیر سره | او یو وخت | مقرر دَ پاره

ترمینځ څیزونه هسے نه بلکه دَ یو حکمت دَ لاندې او دَ یو مقرر نیټے دَ پاره پیدا کړی دی؟

وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۝٨

او بیشکه | ډیر | له خلقو نه | دَ ملاقات دَ رب خپل نه | منکر دی

او ډیر خلق هغوی دَ خپل رب سره دَ ملاقات کیدلو نه منکر دی۔

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

آیا دوی وُ نهٔ ګرځیدل | په زمکه کښے | چه دوی لیدلے | څنګه | شو | انجام

آیا دوی په ملک کښے نهٔ دی ګرځیدلی چه وګوری چه دَ دوی نه دَ مخکښو خلقو انجام

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّ

دَ هغو خلقو | چه له دوی نه وړاندې وو | هغوی وُو | ډیر زیات | له دوی نه | په طاقت کښے | او

څهٔ شو؟ هغوی (خو) دَ دوی نه په طاقت کښے هم زیات وو او په

اَثَارُوا الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا

هغوی واړوله | زمکه | او دلته آباده کړے وه | زیاته | له دے نه چه | دوی آباده کړے ده

زمکه کښے نے کروندے هم (ډیرے) کړے وے، او څومره چه (نن) دوی آباده کړے ده دَ دے نه ډیره زیاته نے آباده کړے

وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

او راغلی وُو دوی ته | دَ دوی پیغمبران | په واضح دلیلونو سره | پس نهٔ وو | الله (دا سے) | چه ظلم نے کولو په دوی

وه، او هغوی ته خپلو پیغمبرانو معجزے هم راوړلے وے، او الله تعالیٰ پرے بانډې زیاتے نهٔ کولو خو

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝٩ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ

او لیکن | وُو دوی | چه په خپلو ځانونو باندې | ظلم کولو | بیا | شو | انجام | دَ هغه خلقو

هغوی به په خپله په ځان زیاتے کولو، بیا کومو خلقو چه بد کارونه وکړل دَ هغوی

اَسَآءُوا السُّوْٓآٰی اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا

كومو چه بدكاري وكړه | بده | ددې د پاره چه | دوى دروغ وګڼل | آيتونه د الله | او دوى به هغې پورې

انجام ډېر بد شو ، ځكه چه هغوئ د الله تعالىٰ آيتونه دروغ ګڼل او په هغې پورې

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾ اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ

ټوقې كولې | الله | په اول ځل پيدا كوي | مخلوق | بيا به | دوباره ژوندى كوي دا | بيا به

ئې خندا ملنډې كولې . هم الله تعالىٰ مخلوق په اول ځل پيدا كوي بيا په دويم ځل به ئې هم هغه را پيدا كوي، بيا به

اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿١١﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿١٢﴾

د دهٔ طرف ته | تاسو ورګرځولے شئ | او په كومه ورځ چه | قائم شي | قيامت | مايوسه به شي | مجرمان

هم د هغهٔ طرف ته تاسو واپس كيږئ . او په كومه ورځ چه قيامت راشي نو مجرمان به مايوسه پاتے شي

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ

او نهٔ به وي | دوى د پاره | د دوى له شريكانو نه | څوك سفارشي | او وي به دوى | له خپلو شريكانو نه

او د دوئ په جوړو كړو شريكانو كښې هيڅوك به ئې سفارشي پيدا نهٔ شي ، او دوئ به د خپلو شريكانو نه (په

كٰفِرِيْنَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿١٤﴾

منكر | او په كومه ورځ چه | قائم شي | قيامت | په دغه ورځ به | دوى جدا جدا شي

خپله) منكر شي . او په كومه ورځ چه قيامت راشي نو په هغه ورځ به دا خلق جدا جدا (ټولى) شي

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِیْ رَوْضَةٍ

پس كوم خلق چه | ايمان داوړي | او هغوئ عمل وكړي | نيك | پس هغوئ به | په باغ (جنت) كښې

نو چا چه ايمان راوړے وو او نيك كارونه ئې كړي وو نو هغوئ به په (د جنت) په باغ كښې

يُّحْبَرُوْنَ ﴿١٥﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ

خوشحاله وي | او كوم خلق چه | منكر شول | او دروغ ئې وګڼل | زمونږ آيتونه | او ملاقات د آخرت

خوشحاله (ناست) وي . او چا چه كفر (ناشكري) كړے وو او زمونږ آيتونه او د آخرت راتلل ئې دروغ ګڼلي وو نو

فَاُولٰٓئِكَ فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿١٦﴾ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ

پس هم دوى به | په عذاب كښې | حاضر كړى شوى وي | پس پاكي بيانوئ د الله | هر كله چه | ماښام كوئ تاسو

هغوئ به په عذاب كښې (ګرفتار) حاضر ولى شي . نو تاسو د ماښام او د سحر په وختونو كښې د الله

وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او هر كله چه | صبا كوئ تاسو | او هم د هٔ لره دى | ټول تعريفونه | په آسمانونو كښې | او زمكه (كښې)

پاكيزګى بيانوئ . او په آسمانونو كښې او په زمكه كښې هم د هغهٔ تعريف دے

وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَيِّتِ

او د ورځې په آخر كښې | او هر كله چه | تاسو زوال په وخت كښې داخليږئ | دے راوباسي | ژوندے | له مړي نه

او د هغهٔ تسبيح كوئ او د ورځې په آخري وخت كښې او د ماسپښين . هغه د مړي نه ژوندے راوباسي ،

وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ط

اوراوباسي | مړے | له ژوندي نه | اوژوندي کوي | زمکه | پس | د مړه کيدو ئے نه

او د ژوندي نه مړے ، او زمکه د مړه کيدو (اوچيدو) نه پس بيا راژوندئ کوي

وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ

او هم دغه شان به | تاسو را اوويستلے شئ | او د دهٔ له نخښو نه دي | چه | دهٔ پيدا کړئ تاسو | له خاوړو نه

او دغه شان به تاسو (هم) راوويستلے شئ . او دهغهٔ بله نخښه دا ده چه تاسو ئے د خاوړو نه پيدا کړئ ، نو

ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ

بيا | ناګهانه | تاسو | سړي شوئ | (هرځائے) خوارهٔ شوئ | او د دهٔ له نخښو نه (دي) | چه

په لږو ورځو کښے (سم دم) سړي شوئ چه خوارهٔ وارهٔ ګرځئ ، او د هغهٔ په نخښو کښے يوه دا ده چه تاسو

خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا

پيدا ئے کړل | تاسو د پاره | ستاسو له جنس نه | ښځے | چه تاسو آرام بيا مومئ | د دوي سره

له ئے ستاسو د خپل جنس نه جوړے (ښځے) پيدا کړے ، چه آرام ورسره بيا مومئ

وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ط اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

او پيدا ئے کړلو | ستاسو په مينځ کښے | محبت | او رحمت | بيشکه | په دے کښے | نخښے دي

او ستاسو (د ښځے خاوند) ترمينځه ئے مينه او همدردي پيدا کړه ، په دے کښے د هغه خلقو د پاره نخښے

لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ

د هغه قوم د پاره | چه فکر کوي | او د دهٔ له نخښو نه (دي) | پيدا کول | د آسمانونو

پرتے دي چه د فکرنه کار اخلي ـ او د هغهٔ په نخښو کښے د آسمانونو او د زمکے پيدا کول

وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ط اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

او د زمکے | او اختلاف | ستاسو د ژبو | او ستاسو د رنګونو | بيشکه | په دے کښے

هم دي ، او ستاسو د ژبو او د رنګونو جدا جدا کول هم دي ، بيشکه په دے کښے د پوهانو خلقو

لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ

نخښے دي | عالمانو د پاره | او د دهٔ له نخښو نه (دي) | ستاسو اوده کيدل | په شپه | او ورځ کښے

د پاره نخښے (او دليلونه) دي ـ او د هغهٔ په نخښو کښے د شپے او د ورځے ستاسو اوده کيدل دي

وَابْتِغَآؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ط اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

او ستاسو لټول دي | د دهٔ له فضل نه | بيشکه | په دے کښے | نخښے دي | د پاره د هغه قوم

او د هغهٔ د فضل نه (روزي) تلاش کول دي. بيشکه په دے کښے هغه خلقو د پاره نخښے دي چه (په غور

يَّسْمَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا

چه اوري | او د دهٔ له نخښو نه (دي) | چه ښائي تاسو ته | آسماني بريښنا | د ويرے

خبره) اوري ـ او د هغهٔ په نخښو کښے يوه دا ده چه تاسو ته د بريښنا برق ښائي په کښے (د تندر) ويره هم

وَّطَمَعًا وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ

او د امید (په توګه) | او دے نازلوی | له آسمان نه | او به | پس دے ژوندئ کوی | په ذریعه | زمکه

ده او (د باران) امید ورته هم. او هغه د بره نه اوبه راوروی. بیا زمکه د اوچیدو نه پس را ژوندئ

بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿٢٤﴾

پس | د مړه کیدو د هغې نه | بیشکه | په دے کښې | نخښې دی | د پاره د هغه قوم | چه عقل لری ۔

او تازه کړی ۔ بیشکه په دے کښې د هغه خلقو د پاره نخښې دی چه د عقل نه کار اخلی ۔

وَمِنْ اٰیٰتِهٖۤ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ؕ

او د دهٔ له نخښو نه (دی) | چه قائم دے | آسمان | او زمکه | د دهٔ په حکم

او د هغهٔ یوه نخښه دا ده چه آسمان او زمکه د هغهٔ په حکم په ځائے قائم دی.

ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ ۗ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ اِذَاۤ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿٢٥﴾

بیا هر کله چه | راوبلی تاسو | په یوځل بللو سره | نو له زمکے نه به | ناګهانه تاسو | راووځئ

نو څهٔ وخت چه هغه تاسو د زمکے د دننه نه راوبلی نو تاسو به ناګهانه راووځئ ۔

وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ الَّذِیْ

او هم د دهٔ دی | څهٔ چه | په آسمانونو کښې | او زمکه (کښې دی) | هریو | هم د دهٔ | فرمانبردار دے | او هم دے دے چه

او څومره خلق چه په آسمانونو او په زمکه کښې موجود دی دا ټول د هغهٔ مخلوق دے، ټول د هغهٔ تابعدار دی او الله هغه ذات دے

یَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ یُعِیْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَیْهِ ؕ وَلَهُ

پیدا کوی په اول ځل | مخلوق | بیا به هم دے دوباره پیدا کوی دا | او هغه زیات آسان دی | ده د پاره | او هم د دهٔ

چه مخلوق په اول ځل پیدا کوی او بیا به ئے سر دوباره هم را پیدا کوی او دا کار ورته زیات آسان دے، او په آسمانونو

الْمَثَلُ الْاَعْلٰی فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ﴿٢٧﴾

شان | ډیر اوچت دے | په آسمانونو کښې | او زمکه (کښې) | او هم دے | غالب | د حکمت خاوند دے

او په زمکه کښې د هغهٔ شان ډیر اوچت دے او هغه ډیر زبردست د حکمتونو خاوند دے ۔

ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ؕ هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا

بیان کړو دهٔ | تاسو د پاره | یو مثال | له حال ستاسو نه | آیا تاسو د پاره | د هغو څخه

الله تعالیٰ تاسو د پاره (د توحید) یو مثال، هم له تاسو نه بیان کړے دے چه آیا د کومو غلامانو چه تاسو مالکان یئ په

مَلَكَتْ اَیْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِیْ مَا رَزَقْنٰكُمْ فَاَنْتُمْ

په مالکان ئے وی | ستاسو ښی لاسونه (یعنی غلامان) | څوک شریک شته؟ | په هغه څهٔ کښې | چه مونږ درکړے دے تاسو ته | چه تاسو

هغوئ کښے څوک داسے هم شته چه په هغه رزق کښے کوم چه مونږ تاسو له درکړے دے، ستاسو برابر

فِیْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ كَخِیْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

په هغې کښې | برابر شئ | ویریږئ تاسو له هغوئ نه | لکه چه تاسو ویریږئ | له خپل ځان نه | دغه شان | مونږ بیانوو

شریک وی؟ چه تاسو د هغوئ داسے خیال ساتئ لکه په خپل مینځ کښے د یو بل چه ساتئ؟ مونږ هوښیارو خلقو ته

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٢٨﴾ بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا

نخښې | دَپاره دَهغه قوم | چه پوهیږي | بلکه | پیروي وکړه | هغه خلقو | چه ظالمان دي

دغسې صفا صفا دليلونه اُوروو. نا، بلکه دا ظالمان بې پوهې (او بې دليل) په خپلو

اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ۗ

دَخپلو خواهشاتو | بغیر دَعلم نه | بیا څوک دے | چه لاره وښائي | هغه چاته چه | گمراه ئې کړي | الله

خواهشونو پسې روان دي نو دا سې خلق به څوک په سمه لاره راوړي کوم چه الله گمراه کړي وي؟

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۗ

او نشته دے | دوی دَپاره | څوک مددگار | پس ته قائم کړه | خپل مخ | دَدین طرف ته | یو طرف شوے

او دَ هغوئ به هیڅوک مددگار نهٔ وي، نو ته همیشه خپل مخ دَ دین طرف ته ساته یو طرفې اوسیږه

فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۗ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ۗ

دا دَ الله فطرت دے | چه پیدا ئې کړل | خلق | په هغې باندې | نشته هیڅ بدلیدل | په دین دَ الله کښې

دَ الله تعالیٰ په فطرت قائم اوسیږه چه الله تعالیٰ پرے ټول خلق پیدا کړي، دَ الله تعالیٰ پیدا کړي شیز ونه بدلول پکار نهٔ دي

ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ ۙ

هم دا دے | دین | درست | او لیکن | اکثر | خلق | نهٔ پوهیږي

پس دغه سم دین دے. خو اکثر خلق نهٔ پوهیږي.

مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا

رجوع کوونکي | دَ دهٔ طرف ته | او ووېرېږئ له دهٔ نه | او قائم کړئ | مونځ | او مه کیږئ تاسو

(خلقو!) الله تعالیٰ طرف ته رجوع وکړئ او دَ هغهٔ نه ویریږئ او دَ مونځ پابندي ساتئ او په مشرکانو کښې مه

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٣١﴾ ۙ مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا

له شرک کوونکو نه | له هغه کسانو نه | چه ټوټې ټوټې ئې کړو | خپل دین | او شول دوئ

شاملیږئ. کوم خلقو چه خپل دین ټکړے ټکړے کړو او فرقې فرقې

شِيَعًا ۗ كُلُّ حِزْبٍۢ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَاِذَا مَسَّ

ډلې ډلې | هره یوه | ډله | په هغهٔ | چه دوئ سره دي | خوشحاله دي | او هر کله چه ورسیږي

شول هره فرقه هم په دے خوشحاله ده څهٔ چه دوی سره دي، او څهٔ وخت چه خلقو

النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ

خلقو ته | تکلیف | (نو) دوی بلي | خپل رب | رجوع کوونکي | دَ دهٔ طرف ته | بیا | هر کله چه | هغه وڅکوي دوئ

ته تکلیف ورسیږي نو خپل رب ته زارۍ شروع کړي، بیا هر کله چه هغه دَ خپل رحمت مزه په

مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ ۙ

له خپل طرف | (مزه) دَ رحمت | (نو) څه وخت | یوه ډله | له دوی نه | دَ خپل رب سره | شریک نیسي

هغوئ وڅکوي نو څهٔ کسان خپل رب له شریکان پیدا کول شروع کړي.

لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۭ فَتَمَتَّعُوْا ۪ وقفه فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۳۴

چه ناشکري وکړي | دَ هغه څه | چه ورکړي دي مونږ دوی ته | پس فائده واخلئ | پس زر به | تاسو پوهه شئ .

حاصل دا چه زمونږ دَ ورکړي شويو نعمتونو ناشکري کوي نو تاسو فائدے واخلئ ، ډير زر به تاسو ته (انجام) معلوم شي

اَمْ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهٖ

يا نازل کړے دے مونږ | په دوی باندي | څه دليل | پس دغه دليل بيانوي | هغه څه | چه دوی دغه | دَ الله سره

آيا مونږ دے کافرانو ته څهٔ سند رالیږلے دے چه هغه ورته دَ شرک خبرے

يُشْرِكُوْنَ ۳۵ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوْا بِهَا ۭ وَاِنْ

شريکوی | او هر کله چه | مونږ وڅکوو | خلقو ته | څهٔ رحمت | نو دوی خوشحاله شي | په هغې | او که چرے

بیانوی ؟ او هر کله چه مونږ دے خلقو ته دَ خپلے مهربانئ لږ څه ډیر خوند وڅکو نو دوی پرے خوشحاله شي (او شکر

تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ۳۶

ورسیږي دوی ته | څهٔ بدي | په وجه دَ هغه | چه وړاندے لیږلي دي | دَ دوی لاسونو | نو ناګهانه دوی | نا اُمیده شي

نهٔ کوي) او که دَ خپل عمل دَ لاسه پرے څهٔ قدرے مصيبت راشي نو زر نا اُميده شي (او صبر نهٔ کوي) .

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ

آيا دوی نهٔ دي کتلي | چه | الله | فراخه کوي | رزق | هغه چاته | چه وغواړي | او تنګوی | بیشکه

آيا دوی ته معلومه نهٔ ده چه الله تعالیٰ دَ چا په حقله وغواړي نو روزي ورله فراخه کړي او چا دَ پاره چه وغواړي تنګه کړي

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۳۷ فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ

په دے کښے | نخښے دي | دَ پاره دَ هغه قوم | چه ايمان لري | پس ورکړه | رشته دار ته | دَ دهٔ حق

بیشکه په دے کښے دَ ایمان دارو خلقو دَ پاره ډیرے نخښے دي . نو تاسو خپلو رشته دارانو ته ، مسکينانو

وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ

او مسکين | او مسافر ته (هم) | هم دا | غوره دي | هغه خلقو دَ پاره | چه غواړي

او مسافرو ته دَ هغوی حق ورکوئ . دا خبره دَ هغه خلقو دَ پاره ډيره غوره ده چه دَ الله تعالیٰ

وَجْهَ اللّٰهِ ۡ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۳۸ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا

رضا | دَ الله | او هم دا خلق دي | کامیاب | او څهٔ چه تاسو ورکوئ | له سود نه

رضامندي غواړي او هم دا خلق فلاح بیا موندونکي دي او تاسو خلق چه (کوم رقم) په سود ورکوئ

لِّيَرْبُوَا۟ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ

چه ډیر شي هغه | په مالونو کښے | دَ خلقو | پس نهٔ ډیریږي هغه | په نزد دَ الله | او څهٔ چه

چه دَ خلقو په مال کښے ملاؤ شي زیات شي نو دا یے څیز دَ الله تعالیٰ سره نهٔ ډیریږي . او چه کوم زکوٰة دَ الله

اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ۳۹

تاسو ورکوئ | له صدقے نه | چه غواړئ تاسو | رضا دَ الله | پس دا دله | هم دوی دي دوچند کونکي

دَ رضا دَ پاره ورکوئ نو دا ہے خلق (خپل مالونه) دَ الله تعالیٰ سره (په څو څو چنده) زیاتوي

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ یُمِیْتُكُمْ ثُمَّ یُحْیِیْكُمْ ؕ

(هم) الله دے | کوم چه | پیدا کړي ئې تاسو | بیا | ده روزي درکړه تاسو ته | بیا | به مړه کړي تاسو | بیا به | ژوندي کړي تاسو

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئے پیدا کړئ بیائے روزي درکړه بیا به درباندې مرګ راولي او بیا به مو ژوندي (ژوندي) کړي

هَلْ مِنْ شُرَكَآىِٕكُمْ مَّنْ یَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَیْءٍ ؕ

آیا | څوک شته ستاسو له شریکانو نه | چه وکړي | له دے (کارونو) نه | څه څیز

کوي - آیا ستاسو په شریکانو کښې څوک داسې شته چه په دے کارونو کښې یو هم وکړے شي ؟

سُبْحٰنَهٗ وَ تَعٰلٰى عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿٤٠﴾ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ

پاک دے دے | او ډیر اوچت دے | له هغه څه نه | چه دوی ئې شریکوي | ظاهر شو | فساد | په وچه

الله تعالیٰ د دوي د پیدا کړو شریکانو نه پاک او ډیر اوچت دے. په اوچه او لوند ه (هر ځائې) کښې د خلقو د بدو

وَ الْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَیْدِی النَّاسِ لِیُذِیْقَهُمْ بَعْضَ

او په دریاب کښې | په وجه د هغه څه | چه کړي دي | لاسونو | د خلقو | د پاره د دے چه دے وڅکوي دوي ته (مزه) | د ځنې

عملونو په وجه فساد خور شوے دے . چه الله تعالیٰ دوي ته د ځنې عملونو (د سزا)

الَّذِیْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ

هغه څه چه | دوي کړي دي | د پاره د دے چه دوي | بیرته راوګرځي | ووایه | وګرځئ | په زمکه کښې

خوند وڅکوي شاید چه دوي منع شي . (اے پیغمبره!) ورته ووایه چه په ټول ملک کښې وګرځئ

فَانْظُرُوْا كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلُ ؕ كَانَ اَكْثَرُهُمْ

بیا وګورئ | چه څنګه | شو | انجام | د هغه خلقو چه | وړاندې وو | وو | اکثر له دوي نه

نو وګورئ چه تاسو نه د مخکنو خلقو انجام څه شو ؟ په هغوي کښې اکثر

مُّشْرِكِیْنَ ﴿٤٢﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّیْنِ الْقَیِّمِ مِنْ قَبْلِ

مشرکان | پس ته سم کړه | خپل مخ | دین (د اسلام) طرف ته | چه درست دے | وړاندې له دے نه

خلق مشرکان وو . نو ته خپل مخ سم دین طرف ته ګرځولے ساته ، د دے خبرے نه وړاندې چه هغه

اَنْ یَّاْتِیَ یَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ یَوْمَىِٕذٍ یَّصَّدَّعُوْنَ ﴿٤٣﴾

چه راشي | هغه ورځ | چه نشته دے بیرته ګرځیدل | د هغې | د الله د طرف نه | په دغه ورځ به | دوي جدا جدا شي

ورځ راشي چه بیا به د الله تعالیٰ (د دنیا) ته پسته راګرځیدل نه کیږي، په هغه ورځ به ټول خلق جدا جدا شي

مَنْ كَفَرَ فَعَلَیْهِ كُفْرُهٗ ۚ وَ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ

چا چه کفر وکړو | نو هم په هغه دے | (وبال) د ده د کفر | او چا چه عمل وکړو | نیک | نو هغوي هم د ځان د پاره

چا چه انکار وکړو نو د هغه د انکار ضرر به هم هغه ته رسیږي، او څوک چه نیک کار ونه کوي نو خپل ځان له سامان

یَمْهَدُوْنَ ﴿٤٤﴾ لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

تیاري کوي | د پاره د دے چه جزا ورکړي الله | هغه خلقو ته | چه ایمان راوړي | او عملونه ئې وکړل | نیک

(د راحت) تیاروي . نو کوم خلق چه ایمان راوړي او هغوي عملونه هم ښه وکړي

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ

له خپل فضل نه | بیشکه دے | نهٔ خوښوی | کافران | اود دهٔ له نخښونه (دی)

هغوی ته به په خپل فضل سره صله ورکوی بیشکه کافران د الله تعالیٰ خوښ نهٔ وی ۔ او د هغهٔ په نخښو کښے یو هٔ دا دهٔ

اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيٰحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ

چه رالیږی | بادونه | زیرے ورکوونکی | او چه وڅکوی تاسو ته | له خپل رحمت نه | او چه جاری شی

چه هغه (د باران) زیرے ورکوونکی بادونه رالیږی د پاره د دے چه د خپلے مهربانئ خوند دربانذ وڅکی او د دے د پاره هم

الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٤٦﴾

کشتئ | د دهٔ په حکم | او چه تاسو ولټوئ | د دهٔ فضل (روزی) | او چه تاسو | شکر وکړئ

چه د هغهٔ په حکم کشتئ وچلیږی او چه تاسو (د تجارت په ذریعه) د هغهٔ مقرره کړے روزی ولټوئ او چه د هغهٔ شکر ادا کړئ۔

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ

او بیشکه | مونږ لیږلی دی | ستا نه وړاندے | پیغمبران | د دوی د قوم طرف ته | پس هغوی راغلل دوی ته

او مونږ ستا نه وړاندے ډیر پیغمبران خپلو خپلو قومونو ته لیږلی دی ، نو هغوی به ورته

بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا ؕ وَكَانَ حَقًّا

په واضحه نخښو سره | بیا مونږ انتقام واخستو | د هغو خلقو نه | چه مجرمان وو | او وو | حق

ښکاره نخښے راوړے ، نو بیا مونږ د مجرمانو خلقو نه بدله واخسته ، او مؤمنانو له غلبه ورکول

عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ

په مونږ بانذے | مدد ورکول | مؤمنانو ته | الله هغه دے چه | لیږی | بادونه

زمونږ ذمه واری وه ۔ الله تعالیٰ هغه ذات دے چه بادونه رالیږی نو هغه

فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ فِي السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ

بیا هغه وچتوی | وریځے | بیا دے خوروی هغه | په آسمان کښے | څنګه چه | دے غواړی

(بادونه) وریځے راوچتوی بیا چه الله تعالیٰ څنګه غواړی هغے له په فضا کښے خوروی

وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ

او دے هغه کړی | ټوټه ټوټه | بیا ته وینے | څاڅکی | چه راوځی | له مینځ د هغے نه

او غوسکی غوسکی ترے نه جوړوی نو ته وینے ګوره چه د هغے د مینځه نه باران راوریږی

فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖۤ اِذَا هُمْ

بیا هر کله چه | دے ورسوی | دا | هغه چاته چه غواړی | له خپلو بندګانو نه | نو هغه وخت | دوی

بیا چه الله تعالیٰ هغه باران په کومو بندګانو بانذے وروی نو هغوی ډیر خوشحالئ

يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ

خوشحاله شی | اګرکه وو دوی | له دے نه وړاندے | چه هغه (باران) نازل شی | په دوی بانذے

شروع کړی ۔ اګرکه هغوی د باران د وریدو نه وړاندے د دے خوشحالئ نه وړو مبے

مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَانْظُرْ اِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ كَيْفَ

له دے نه وړاندې | نا اُمیده | پس وګوره | طرف | دَ آثارو | دَ الله دَ رحمت | چه څنګه

قطعي نا امیده وو . نو ته دَ الله تعالیٰ دَ رحمت دے نخښو ته وګوره چه څنګه زمکه دَ مرګ

يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ

ژوندۍ کوي | زمکه | پس دَ مړه کیدو دَ دې نه | بیشکه | دے | خامخا ژوندي کونکے | دَ مړو دے

نه پس بیا راژوندۍ کوي ؟ هم دغه خدائے دے چه مړي راژوندي کوي

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾ وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا فَرَاَوْهُ

او دے | په هر څیز باندې | قادر دے | او که چرے | راولیږو مونږ | باد | پس دوی ووینې هغه

او هغه په هر څۀ باندې قدرت لري ؟ او که مونږ په دوي باندې بل شان سیلئ راوسته او دوی

مُصْفَرًّا لَّظَلُّوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ يَكْفُرُوْنَ ﴿٥١﴾ فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى

زیړ شوے | نو دوی به ضرور شي | پس له هغه نه | ناشکري کونکي | پس بیشکه ته | نۀ شې آورولے | مړو ته

خپل فصل زیړ وویني نو دَ دے نه پس به هم (په زړو نعمتونو) ناشکري وکړي . نو ته مړو ته خبرے آورولے نۀ شې

وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ اَنْتَ

او ته نۀ شې آورولے | کڼو ته | آواز دَ بلنے | هر کله چه | دوی واپس شي | شا ګرځونکي | او نۀ یې ته

او کڼو ته آواز رسولے نۀ شې هر کله چه هغوئ درته شا کړي او په شا غاړه درنه روان شي . او ته (دَ عقل)

بِهٰدِ الْعُمْیِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ

لاره ښودونکے | ړندو ته | له ګمراهئ دَ دوی نه | ته نۀ شې آورولے | مګر هغه چا ته چه | ایمان راوړي

ړندو ته دَ ګمراهئ نه سمے لارے ته را اړولے نۀ شے ، ته خو بس هغه چا ته (دَ دین) خبره آورولے شے چه زمونږ

بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿٥٣﴾ ؑ اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ

زمونږ په آیتونو | پس هم دوی | مسلمانان دي | الله هغه دے چه | پیدا ئے کړئ تاسو | (په حالت دَ) کمزورئ کښے

په آیتونو یقین ساتي او هم دغه فرمانبردار دي . الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئے دَ کمزورئ په حالت کښے پیدا کړئ

ع ٥

ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا

بیا پیدا کړو دۀ | پس | له کمزورئ نه | طاقت | بیا ئے پیدا کړه | پس | له طاقت نه | کمزوري

بیا دَ کمزورئ نه پس ئے طاقت درکړو ، بیا ئے دَ (ځوانئ د) طاقت نه پس درباندې کمزوري او بوډاتوب

وَّشَيْبَةً ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ

او بوډاوالے | دے پیدا کوي | څۀ چه دے غواړي | او دے | پوهه | قدرت والا دے | او په کومه ورځ

راوستلو . هغه چه څۀ غواړي نو هغه څیز پیدا کوي او الله تعالیٰ په هر څۀ پوهه دَ قدرتونو خاوند دے او څۀ وخت چه

تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ۬ مَا لَبِثُوْا غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ

چه قائم شي | قیامت | (نو) قسمونه به خوري | مجرمان خلق | چه نۀ دَو پاتے شوي دوی | یو ساعت نه زیات

قیامت راشي نو مجرمان به قسمونه خوري ، چه مونږ خو دَ یو ورنګ شیبے نه زیات پاتے شوي نۀ وو ،

كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

دغه شان | دوی له لاری نه اړول روان وو | او وبه وائی | هغه خلق چه | ورته ورکړے شوے وو | علم

دوی (په دنیا کښې) هم دغسے اړول چیدل. او چاله چه علم او ایمان (دواړه نعمتونه) ورکړے شوی

وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ فَهٰذَا

او ایمان | بیشکه وُسیدلی وئی تاسو | (مطابق د) الله د کتاب | تر ورځے د دوباره پاځیدلو | پس هم دا د

دی هغوی به وائی چه تاسو د الله تعالیٰ د لیک مطابق (په موده موده) د قیامت تر ورځے پورے پلته شوی یئی نو دا ئی د

يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ

د دوباره پاځیدلو ورځ | او لیکن تاسو | نه پوهیدلئی. | پس په دغه ورځ به | فائده نه ورکوی | هغو ته

قیامت هغه ورځ ده، مگر تاسو به پرے نه پوهیدلئ. نو په دغه ورځ به ظالمانو ته خپل عذرونه

ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ

چه ظلم ئے وکړو | عذر د هغوی | او نه به له دوی ته | توبه قبوله شی | او بیشکه | موږ بیان کړی دی | خلقو ته

هیڅ فائده ورنه کړی او نه به د الله تعالیٰ د راضی کولو دوی ته موقع ورکولے شی. او موږ د خلقو د فائدے د پاره په

فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۭ وَلَىِٕنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ

په دے قرآن کښے | د هر قسم | مثالونه | او که چرے | راوړے ته دوی ته | څه معجزه

دے قرآن کښے هر قسم مضامین بیان کړی دی. او که چرے ته دے کافرانو ته څه معجزه پیش کړے نو

لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿٥٨﴾ كَذٰلِكَ

نو ضرور به وائی | هغه خلق چه | کافران دی | چه نه یئی تاسو | مگر | دروغ ویونکی | دغه شان

بیا هم څوک چه کافران دی هغوی به دا ووایا کوی چه تاسو خو بس دروغژن یئی. دغه شان

يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٩﴾ فَاصْبِرْ

مهر لگوی الله | په زړونو | د هغو خلقو | چه نه پوهیږی | پس صبر کوه

الله تعالیٰ د هغه خلقو په زړونو مهر لگوی څوک چه نه پوهیږی. پس ته صبر کوه

ع ٧ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٦٠﴾

بیشکه | وعده د الله | حقه ده | او بے صبره دِ نه کړی تا | هغه خلق چه | یقین نه لری.

د الله تعالیٰ وعده رښتینې ده او (خیال ساته) چه دا بے یقینه خلق تا بے قابو نه کړے شی

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ لقمان په مکه کښے نازل شوے او په | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ٣٤ آیتونه او ٤ رکوع گانے دی

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے.

الٓمّٓ ﴿١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾ هُدًى وَّرَحْمَةً

الٓمّٓ | دا | آیتونه دی | د کتاب | حکمت والا | هدایت | او رحمت دے

الف-لام-میم دا د دا سے کتاب آیتونه دی چه په حکمت پوره دے. چه نیکانو له هدایت او

لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣﴾ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

دَپاره دَ نیکانو | کوم چه | قائموی | مونځ | او ورکوی | زکوٰة

رحمت دے هغه کسانو له چه دَ مونځ پابندی کوی او زکوٰة ورکوی

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿٤﴾ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى

او دوئ | په آخرت باندې | هم دا خلق دی | یقین لری | په هدایت باندې

او په آخرت باندې پوره پوره یقین ساتی. دغه خلق دی چه دَ خپل ربّ طرف نه په

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٥﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

دَ خپل رب له طرف نه | او هم دا دی | خلاصے موندونکی | او ځنې له خلقو نه | هغه څوک دی

راغلے سمه لار روان دی او هم دغه کسان نجات موندونکی دی او په خلقو کښے هغه (بدبخت) هم دی

يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ

چه اخلی | فضول کلام | دَ پاره دَ دے چه گمراه کړی | دَ الله دَ لارے نه | بے دَ علم نه

چه دَ الله تعالیٰ نه غافله کوونکے خبرے په بیعه اخلی چه خلق پرے بے دَ پوهے نه دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه گمراه کړی.

وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٦﴾ وَاِذَا

او وګرځوی دے پورے | توقے | هم دا خلق دی | چه دوی دَ پاره | عذاب دے | رسوا کوونکے | او هر کله چه

او دَ الله په (رالیږلی) تعلیم پورے ملنډے وکړی، دا سے خلقو له سپکوونکے عذاب مقرر دے. او څه وخت چه

تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا

لوستلے کیږی | دَهٔ ته | زمونږ آیتونه | نو مخ واړوی | په غرور سره | لکه چه | دهٔ نهٔ دی آوریدلی هغه

دَ هغهٔ په وړاندې زمونږ آیتونه لوستلے شی نو دے ترے نه په غرور سره مخ واړوی لکه چه هغه و آوریدلی ئے نهٔ وی

كَاَنَّ فِيْۤ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٧﴾

لکه چه | دَ دهٔ په دواړو غوږونو کښے | دروند والے دے | پس زیرے ورکړه دهٔ ته | دَ عذاب | دردناک

لکه چه غوږونه ئے دړانهٔ وی. نو (اے پیغمبره!) دَ دردناک عذاب زیرے ورته ورکړه

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتُ

بیشکه | هغه خلق چه | ایمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل | نیک | هغوی دَ پاره | باغونه دی

بیشکه څوک چه ایماندار دی او دَ نیکئ کارونه کوی. هغوی له دَ عیش باغونه

النَّعِيْمِ ﴿٨﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۖ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

دَ نعمت | همیشه به وی دوی | په هغو کښے | وعده ده | دَ الله | رښتینې | او دے | غالب

تیار دی چه همیشه به په کښے (خوشحاله) اوسیږی دا دَ الله تعالیٰ پخه وعده ده او هغه زبردست او دَ

الْحَكِيْمُ ﴿٩﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا

حکمت والا دے | دهٔ پیدا کړل | آسمانونه | بے | دَ ستنو | تاسو وینئ دا

حکمتونو خاوند دے. هغهٔ آسمانونه بے ستنو ودرولی دی چه تاسو ئے په خپله وینئ

وَاَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ

او دهٔ وغورځول | په زمکه کښې | غرونه | چه (نهٔ) خوزی دا | په تاسو | او خوارهٔ کړل

او په زمکه ئے د غرونو (میخونه) لګولی دی چه په تاسو نهٔ جرقیږی او هر قسم

فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا

په دې کښې | دَ هر قسم ځناور | او موږ رالیږلے | له آسمان نه | اُوبهٔ | بیا را زرغون کړل موږ

ځناور ئے په کښې خوارهٔ کړی دی او موږ له آسمان نه اُوبهٔ راوُورولے ، او په زمکه کښې

فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝١٠ هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِىْ

په دې کښې | دَ هر قسم | جوړے | ښے | دا (خو) | مخلوق دے | دَ الله | پس تاسو وښایئ ماته

مو هر قسم ښهٔ ښیرونه را زرغون کړل . دا خو دَ الله تعالیٰ جوړکړی څیزونه شول نو اوس ماته وښایئ

مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ

چه څهٔ | پیدا کړی دی | هغه (معبودانو) | چه دَ دهٔ نه سیوا دی؟ | بلکه | ظالمان

چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل چا نور څهٔ پیدا کړی دی ؟ اصل خبره دا ده چه دا خلق په ښکاره

فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝١١ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ

په ښکاره ګمراهئ کښې دی | او بیشکه | موږ ورکړے وو | لقمان ته | حکمت | چه شکر وکړه

ګمراهئ کښې دی . او بیشکه موږ لقمان ته هوښیارتیا ورکړه (او وُمو وئیل) چه دَ الله تعالیٰ

لِلّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ

دَ الله | او څوک چه | شکر کوی | نو بیشکه | هغه شکر کوی | دَ خپل ځان دَ پاره | او څوک چه | ناشکری کوی

شکر کوه او څوک چه شکر کوی نو دَ خپل ځان دَ فائدے دَ پاره ئے کوی ، او څوک چه ناشکری کوی

فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِىٌّ حَمِيْدٌ ۝١٢ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ

نو بیشکه | الله | بے نیازه | دَ تعریف لائق دے | او هرکله چه | وُوئیل | لقمٰن | خپل ځوئے ته | او هغهٔ

نو الله تعالیٰ بے نیازه دَ تعریفونو قابل دے . او څهٔ وخت چه لقمان خپل ځوئے ته دَ نصیحت په

يَعِظُهٗ يٰبُنَىَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ

نصیحت کوو دهٔ ته اے زما ځویه ! | ته شریک مهٔ نیسه | دَ الله سره | بیشکه | شرک | ظلم دے

طور وُوئیل چه اے زما ځویه ! ته خدائے له شریک مهٔ پیدا کوه ، بیشکه شرک ډیر لوئے ظلم

عَظِيْمٌ ۝١٣ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ

ډیر لوئے | او موږ حکم وکړو | انسان ته | دَ دهٔ دَ پلار او مور په حقله | اُوچت کړے دے | دَ دهٔ مور

دے . او موږ بنیادم ته دَ مور او پلار په حقله ډیر تاکید کړے دے . (ځکه چه) مور دَ ډیرے کمزورئ

وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ وَّفِصٰلُهٗ فِىْ عَامَيْنِ اَنِ اشْكُرْ لِىْ

ضعف په ضعف باندے | او له تی نه خلاصول دَ دهٔ | په دوؤ کالو کښې دی | دا چه شکر وکړه | زما

سره په ګیډه کښې ساتلے وُو او بیا په دوه کاله کښې ئے دَ تی نه خلاص کړو چه اے بنده ! ته زما هم او دَ مور پلار

ع ۱۰

رقم النبي صلى الله عليه وسلم

النصف

وَلِوَالِدَيْكَ ۭ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ۝١٤ وَاِنْ جٰهَدٰكَ عَلٰٓي اَنْ تُشْرِكَ

او دَ خپل مور او پلار | هم زما طرف ته واپس راتلل دي | او که چیرے | کوشش کوي دوي په تا | په دے چه ته شریک مقرر کړے

هم شکر کوه او ما ته په خامخا پسته راتلل دي . او که چیرته دوي دواړه درباندې زور راوړي چه ته ما سره بغیر

بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۙ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا

ما سره | هغه څیز | چه نشته دے | تا ته | دَ هغې | څه علم | نو دَ دوي فرمانبرداري مه کوه | او تعلق ساته دَ دوي سره

دَ څه دلیل نه څوک شریک ومنه ، نو دَ هغوي دواړو خبره مه منه او په دُنیا کښې هغوي سره

فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا ۡ وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ ثُمَّ

په دنیا کښې | په ښه طریقه | او پیروي کوه | دَ لارے | دَ هغه چا | چه رجوع کوي | طرف زما ته | بیا

ښه سلوک ساته ، او دَ هغه چا په لاره روان وسیږه چه ما ته رجوع کوي ، بیا ستاسو

اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝١٥ يٰبُنَيَّ

زما طرف ته | ستاسو واپس راتلل دي | پس زه به وښایم تاسو ته | څه چه | تاسو کول - | اے زما ځویه!

دَ ټولو ما ته واپس راتلل دي ، بیا به زه ستاسو دَ عملونو نه تاسو خبر کړم .(لقمان ووئیل) اے زما ځویه!

اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ

بیشکه (څه عمل) | که چیرے وي | برابر | دَ دانې | دَ اوړي | بیا وي | په یو کاڼړي کښې

که یو عمل دَ اوړي دَ دانې هومره نرے وي بیا هغه په یو کاڼړي کښې دننه پټ پروت وي

اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

یا | په آسمانونو کښې | یا | په زمکه کښې | حاضر به کړي | هغه | الله | بیشکه | الله

یا په آسمانونو کښې یا په زمکه کښې دننه پټ وي نو الله تعالیٰ به ئې راحاضر کړي. بیشکه الله تعالیٰ ډیر

لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ۝١٦ يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ

باریک بین | خبردار دے | اے زما ځویه! | قائم کړه | مونځ | او حکم کوه | دَ نیکئ

باریک بین (او) باخبره دے. اے زما ځویه! مونځ کوه او خلقو ته دَ نیکئ حکم ورکوه ،

وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰي مَآ اَصَابَكَ ۭ اِنَّ ذٰلِكَ

او منع کوه | له بدئ نه | او صبر کوه | په هغه څه | چه دررسي تا ته | بیشکه | دا

او دَ بدئ نه خلق منع کوه او چه کوم مصیبت دربانې راشي نو په هغې صبر کوه. بیشکه دا ډیر

مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۝١٧ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ

دَ همّت | له کارونو نه (دے) | او مه تاوَوه | خپل مخ | له خلقو نه | او مه ځه

دَ همّت کار دے. او خلقو ته خپل مخ مه پړسوه ، او په زمکه

فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ۝١٨

په زمکه کښې | په غرور سره | بیشکه | الله | نه خوښوي | هر | مغرور | فخر کوونکے

باندې غاړه مه کږه . دَ الله تعالیٰ غاړه فخر کوونکي خلق خوښ نه دي

وَاقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ؕ اِنَّ

اوميانه روی کوه | په خپل تګ کښې | او ښکته کړه | خپل آواز | بيشکه

او په خپل تګ کښې اعتدال ساته او په خپل آواز کښې نرمي پيدا کړه ۔ بيشکه په

٢ع ٨ ١١ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ﴿١٩﴾ اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

ډير زيات بد | په آوازونو کښې | آواز | دَ خر دے | ايا تاسو نهٔ دی کتلی | چه | الله

آوازونو کښې خراب آواز دَ خر دے ۔ ايا تاسو دا نهٔ وينئ چه الله تعالیٰ

سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ

په کار لګولی دی | تاسو دَ پاره | هغه څهٔ | چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څهٔ | چه په زمکه کښې دی | او دهٔ پوره کړل

دَ آسمانونو او دَ زمکے ټول څيزونه ستاسو په خدمت بانډې لګولی دی ، او تاسو ته ئے

عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ؕ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

په تاسو | خپل نعمتونه | ښکاره | او پټ | او ځنې له خلقو نه | هغه څوک دی چه

خپل ښکاره او پټ نعمتونه پوره په پوره درکړی دی ، او ځنې خلق داسے دی چه دَ الله تعالیٰ

يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿٢٠﴾

بحث کوی | دَ الله په حقله | بغير دَ علم نه | او بغير دَ هدايت نه | او بغير دَ روښانه کتاب نه

په حقله بغير دَ څهٔ واقفيت نه او بغير دَ څهٔ دليل نه او بغير دَ يو روښانه کتاب نه (تاسره) جګړے کوی

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا

او هر کله چه | ووئيلے شی | دوی ته | چه پيروی وکړئ | دَ هغه څهٔ | چه نازل کړو | الله | (نو) دوی وائی

او هر کله چه ورته ووئيلے شی چه دَ هغه حکمونو پيروی کوئ چه الله تعالیٰ نازل کړی دی نو دا وائی چه نه

بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ

بلکه | مونږ به پيروی کوو | دَ هغه څهٔ چه مونده لی ګا مونږ | په هغے بانډې | خپل پلاران | آيا اګر که | شيطان

مونږ خو به هم په هغه لاره بانډې ځو په کومه چه مونږ خپل پلار نيکهٔ روان موندلی دی آګر که په دغه لاره بانډې

يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ﴿٢١﴾ وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ اِلَى اللّٰهِ

بلی دوی | طرف دَ عذاب | دَ دوزخ ته | او څوک چه | متوجه کړی | خپل مخ | دَ الله طرف ته

شيطان ئے دَ دوزخ انګار ته راولی ، او څوک چه خپل مخ الله تعالیٰ ته وُسپاری

وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ؕ وَاِلَى اللّٰهِ

او دے | نيکو کار وی | نو بيشکه دهٔ وُنيوله | کړئ | مضبوطه | او الله طرف ته دے

او په اخلاص نيکی کوی ، نو هغهٔ مضبوطه کړئ وُنيوله ، او آخرهٔ ټولو کارونو

عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿٢٢﴾ وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ؕ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

آخير | دَ (ټولو) کارونو | او څوک چه کفر وکړی | نو غمژن دِ نهٔ کړی تا | دَ هغهٔ انکار | زمونږ طرف ته ګا | دَ دوی واپس راتلل

انجام الله تعالیٰ ته دے ۔ او چا چه کفر غوره کړو نو ته دَ هغهٔ دَ کفر په وجه مهٔ غمژن کيږه مونږ ته به دوی ټول بيرته راځی

فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٢٣﴾

بیا به موږ وښایو دوی ته | څه چه | عمل وکړو دوی | بیشکه الله | ښه پوهه دے | په رازو | د سینو

نو موږ به ورته خپل ټول کارونه په گوته کړو ، بیشکه الله تعالیٰ ته د زړه ټول پټ رازونه ښه معلوم دے.

نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿٢٤﴾ وَلَئِنْ

موږ به فائده ورکړو دوی ته | لږه | بیا به موږ وشړو دوی | طرف د عذاب | سخت ته | او که چرے

موږ به دوی له لږه شان موقع ورکوو او بیا به ئے یو سخت عذاب طرف ته راکاږو . او که ته ترے نه

سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

ته تپوس وکړے له دوی نه | چه چا | پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه | نو دوی به ضرور ووائی | هم الله

تپوس وکړے چه دا آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی ؟ نو په جواب کښے به ووائی چه الله

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ لِلّٰهِ مَا

ووایه | ټول تعریفونه | الله لره دی | بلکه | اکثر له دوی نه | نه پوهیږی | هم د الله دی | څه چه

نو ته ورته ووایه چه ټول تعریفونه د الله (په کار) دی خو په دوی کښے اکثر خلق نه پوهیږی ، د آسمانونو او د

فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِىُّ الْحَمِيْدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ اَنَّمَا

په آسمانونو کښے | او زمکه کښے دی | بیشکه هم الله دے | بے نیازه | د حمد لائق | او که چرے | څه څه

زمکے هر څیز د الله تعالیٰ مال دے . بیشکه چه الله تعالیٰ بے نیازه د تعریفونو خاوند دے . او که د

فِى الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ

چه په زمکه کښے دی | له اونو نه | قلمونه شی | او دریاب (سیاهی) | چه مدد وکړی د دے | له دے نه پس

زمکے په مخ باندے ټولے اونے قلمونه شی او سمندر سیاهی جوړه شی او د دے د مدد د پاره

سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٧﴾

اووه | دریابونه (نور) | (نو هم به) ختمے نه شی | خبرے | د الله | بیشکه الله | ډیر غالب | حکمت والا دے

اووه سمندرونه نور راشی بیا به هم د الله تعالیٰ خبرے ختمے نه شی بیشکه الله زبردست د حکمتونو خاوند دے .

مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٢٨﴾

نه دے پیدا کول ستاسو | او نه راپورته کول ستاسو | مگر په شان د یو تن | بیشکه الله | آوریدونکے | لیدونکے دے

ستاسو د ټولو په اول ځل راپیدا کول او بیا سر دوباره ژوندی کول بالکل داسے دی لکه د یو سړی راپیدا کول الله هر څه آوری هر عمل

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ

آیا ته نه دی کتلی | چه الله | داخلوی | شپه | په ورځ کښے | او داخلوی | ورځ | په شپه کښے

وینی گوری . آیا تاته معلومه نه ده چه الله تعالیٰ شپه په ورځ کښے او ورځ په شپه کښے ورننباسی ؟

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؗ كُلٌّ يَّجْرِىْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى

او ده تابع کړی دی | نمر | او سپوږمۍ | هر یو | روان دے | تر موده | مقرره پورے

او هم ده نمر او سپوږمۍ په کار باندے لګولی دی چه هر څیز په تر مقرره نیټه پورے روان دی .

وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡحَـقُّ

او بیشکه الله | له هغه څه نه | چه تاسو ئې کوئ | خبردار دے | دا | ځکه چه الله | هم دے دے برحق

او الله تعالیٰ ستاسو په ټولو کارونو خبر دے . دا ځکه چه الله تعالیٰ په خپله هستئ کښې په خپله کامل دے

وَاَنَّ مَا يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهِ الۡبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡعَلِىُّ

او چه کوم څیز (هم) | دوی بلی | سیوا له ده نه | هغه باطل دی | او بیشکه | هم الله دے | عالیشان

او دوی چه د الله تعالیٰ نه سیوا د نورو چا بلنه کوی هغه قول باطل دی . او الله تعالیٰ د هر څیز نه اوچت ډیر

الۡكَبِيۡرُ ﴿۳۰﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّ الۡفُلۡكَ تَجۡرِىۡ فِى الۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ اللّٰهِ

ع ۱۱/۱۴

ډیر لوئے | آیا تا نه دی کتلی | چه کشتئ | روانه وی | په دریاب کښې | په فضل د الله

لوئے دے ، آیا ته نه وینې چه هم د الله تعالیٰ په فضل سره کشتئ په دریاب کښې چلیږی

لِيُرِيَكُمۡ مِّنۡ اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوۡرٍ ﴿۳۱﴾

چه د ښودلو ښائی تاسو ته | خپلې نخښې | بیشکه | په دے کښې | نخښې دی | د پاره د هر | صبر کوونکی | شکر کوونکی

چه تاسو ته د خپل قدرت نخښې وښائی . بیشکه چه په دے کښې د هر صبر کوونکی او شکر کوونکی د پاره نخښې پرتې دی

وَاِذَا غَشِيَهُمۡ مَّوۡجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ

او هر کله چه | پټ کړی دوی | څپه | په شان د سائبان | نو بلی دوی الله | خالص کوونکی | د پاره د ده

او هر کله چه (د سمندر) څپې د څپرو نو په شان په دوی باندې راوخیژی نو دوی ډیر په اخلاص سره د الله بلنه شروع

الدِّيۡنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰهُمۡ اِلَى الۡبَرِّ فَمِنۡهُمۡ مُّقۡتَصِدٌ ؕ

عبادت | بیا هر کله چه | نجات ورکړی دوی ته | د اوچې طرف ته | نو (ځنې) له دوی نه | په اعتدال وی

کړی ، خو چه هغه ئې د اوچې طرف ته راخلاص کړی نو ډیر لږ خلق په کښې په اعتدال پاتې کیږی

وَمَا يَجۡحَدُ بِاٰيٰتِنَاۤ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوۡرٍ ﴿۳۲﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا

او انکار نه کوی | زموږ د آیتونو | مگر | وعده ماتوونکے | ناشکر گذار | اے خلقو ! | ویریږئ

او زموږ د آیتونو نه خو هغه خلق انکار کوی چه بے لوظه ناشکره وی . اے خلقو ! د خپل رب د عذاب

رَبَّكُمۡ وَاخۡشَوۡا يَوۡمًا لَّا يَجۡزِىۡ وَالِدٌ عَنۡ وَّلَدِهٖ ۟ وَلَا مَوۡلُوۡدٌ

له رب خپل نه | او ویره کوئ | له هغه ورځې نه | (چه) په کار به رانه شی | (هیڅ) پلار | د خپل ځوئے | او نه (څوک) ځوئے

نه ویره کوئ او د هغې ورځې نه ویریږئ چه یو پلار به د خپل ځوئے بدل له ورکولے نه شی او نه به یو ځوئے د

هُوَ جَازٍ عَنۡ وَّالِدِهٖ شَيۡـئًا ؕ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الۡحَيٰوةُ

به په کار راشی | د خپل پلار | د څه څیز | بیشکه | وعده د الله | ریښتیا ده | پس دوکه دی نه کړی تاسو | ژوندن

خپل پلار څه په کار راشی . بیشکه د الله تعالیٰ وعده ریښتینې ده ، پس د دنیا ژوندن مو په دوکه کښې

الدُّنۡيَا ٙ وَلَا يَغُرَّنَّكُمۡ بِاللّٰهِ الۡغَرُوۡرُ ﴿۳۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ

د دنیا | او دوکه دې نه کړی تاسو ته | د الله په حقله | دوکه ورکوونکے (شیطان) | بیشکه الله | هم ده سره دے | علم

وانه چوی او نه دوکه باز شیطان مو د الله تعالیٰ په حقله په دوکه کښې واچوی . بیشکه هم الله تعالیٰ ته د قیامت

السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِي

دَ قیامت | او دے نازلوی | باران | او پوهیږی | په هغه څه چه په خیټو دَ ماغو کښے دی | او نه پوهیږی

علم دے او هم هغه باران وروی او هم هغه دَ رحم دننه (ماشوم) پیژنی . او هیچا ته معلومه

نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ

هیڅ کس چه | څه به | کوی هغه | صبا له | او نه | پوهیږی | هیڅ کس چه | په کومه زمکه به

نه دَه چه صبا به څه کوی ؟ او هیچا ته معلومه نه دَه چه کوم ځائے به مړ

تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ۝٣٤

هغه مری | بیشکه الله | پوهه | خبردار دے

کیږی . بیشکه الله تعالیٰ ته هرڅه معلوم دی په هر څه خبر دے

الربع

سُورَةُ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ | ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة سجده په مکه کښے نازل شوه او | (شروع) دَ الله په نوم چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښے ۳۰ آیتونه او ۳ رکوعګانې دی

دَ الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ۝٢

الٓمٓ | نازلول دَ (دے) کتاب | هیڅ شک نشته | په دے کښے | له طرفه دَ رب | دَ عالمونو نه دے .

الف، لام، میم . دا را نازل شوے کتاب دے چه هیڅ شک په کښے نشته ، دَ رب العٰلمین دَ طرف نه راغلے دے .

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ

آیا دوی وائی چه | تا دَ خانه جوړ کړے دے دا | (نا) بلکه | دا | رښتیا دے | ستا دَ رب له طرف نه

آیا دا خلق وائی چه پیغمبر دا کتاب دَ ځانه جوړ کړے دے . نه ! بلکه دا ستا دَ رب له طرف نه په حقه راغلے دے .

لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أَتَاهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ

دَ پاره دَ دے چه ته ووېروے ته | هغه خلق | چه نه دے راغلے دوی ته | څوک وېرونکے | له تا نه وړاندې | دَ پاره دَ دے چه دوی

چه ته ووېروے هغه قوم دوېروے چه له تا نه وړاندې ورته هیڅوک وېرونکے نه دے راغلے ، شاید چه دوی به

يَهْتَدُونَ ۝٣ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

لاره بیا مومی | (هم) الله دے | چا چه | پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه | او هغه چه دَ دواړو په مینځ کښے دی

سمه لاره روان شی . الله تعالیٰ هغه ذات دے چه آسمانونه او زمکه او دَ دے دواړو ترمینځه څیزونه

فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِ

په شپږو | ورځو کښے | بیا | دے قائم شو | په عرش باندې | نشته تاسو له | بے له دَه نه

ئے په شپږو ورځو کښے پیدا کړل ، بیا په عرش باندې قائم شو ، دَ هغه نه سیوا ستاسو نه څوک مددګار

مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ۝٤ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ

څوک دوست | او نه | سفارش کوونکے | نو آیا تاسو غور نه کوئ | دے انتظام کوی | دَ ټولو کارونو

شته او نه سفارشی . نو آیا تاسو دَ دے نه سبق نه اخلئ ، هغه دَ آسمان نه تر زمکے پورے

مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ

له آسمان نه | طرف د زمکې ته | بيا پورته خيژي | د ده طرف ته | په يوه ورځ کې

د هر کار بند وبست کوي . بيا هر يو کار به د هغهٔ حضور ته پيش کيږي، په يو داسې ورځ کې

كَانَ مِقْدَارُهٗٓ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ۝٥ ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ

چه مقدار د هغې دے | يو زر | کاله | په هغه حساب | چه تاسو ئې شميرئ | هم دا دے | چه عالم دے | په پټو

چه د هغې مقدار به ستاسو د حساب مطابق پوره زر کاله وي . هم دا الله دے چه په پټو او په ښکاره

وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝٦ الَّذِيْٓ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ

او په ښکاره (څيزونو) | زبردست دے | رحم کوونکے دے | هغه چا چه | ښائسته جوړ کړو | هر څيز | چه ده پيدا کړو

ټولو څيزونو عالم دے زبردست او مهربان دے . هر څۀ چه ئې جوړ کړي دي نو ډير ښۀ (او محکم) ئې جوړ کړي دي

وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ۝٧ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ

او شروع ئې وکړه | د پيدائش | د بنيادم | له خاورې نه | بيائې جوړ کړو | د ده نسل | له خلاصې

او د انسان پيدائش ئې د خاورې نه شروع کړے دے . بيا د هغهٔ نسل ئې د نچوړ نه (او) د بيقدره

مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ۝٨ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ

د اوبو | حقيرو نه | بيائې درست کړو دے | او پوکې ئې وهلو | په ده کې | له خپل روح نه | او پيدا ئې کړل

اوبو نه وچلولو . بيائې د هغهٔ اندامونه روغ کړل او په کښې ئې د خپل (طرف نه) روح پوک وهلو . او تاسو له

لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝٩ وَقَالُوْٓا

تاسو لره | غوږونه | او سترګې | او زړونه | (مګر) ډير لږ | تاسو شکر کوئ | او دوی وائي

ئې غوږونه ، سترګې او زړونه درکړل ، مګر تاسو ډير لږ شکر ادا کوئ . او دوی وائي

ءَاِذَا ضَلَلْنَا فِي الْاَرْضِ ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ؕ بَلْ هُمْ

آيا هر کله چه ورک شو موږ | په زمکه کښې | نو آيا موږ به | د نوي سره پيدا کيږو ؟ | (نه) بلکه | دوی (خو)

چه هر کله موږ په زمکه کښې ختم شو نو آيا موږ به بيا د نوي سره راژوندي کيږو ؟ خبره دا ده چه

بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ كٰفِرُوْنَ ۝١٠ قُلْ يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ

د ملاقات نه | د رب خپل | منکر دي | ووايه | قبض کوي روح ستاسو | فرښته | د مرګ

دا خلق د خپل رب د ملاقات نه منکر دي . (اے پيغمبره!) ووايه، چه ملک الموت چه په تاسو مقرر دے

الَّذِيْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ۝١١ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ

ع ١١ / ١٢

کوم چه | مقرر کړے شوے دے | په تاسو | بيا به | تاسو د خپل رب طرف ته | واپس کړے شئ | او که چرې ووينې ته | کوم وخت چه ګناهګاران به

ستاسو روحونه به قبض کوي نو بيا به خپل رب ته واپس کړے شئ . او کاش! ته هغه مجرمان ووينې چه هغوی به

نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا

ټيټ کړي وي | خپل سرونه | د خپل رب په وړاندې | اے زموږه ربه! | موږه وليدل | او موږه واوريدل

خپل خدای ته سرونه ټيټ نيولي (او وائي به) اے زموږ ربه! اوس زموږ سترګې او غوږونه پرانستے شول

فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ⑫ وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا

پس واپس ولیږه موږ | چه موږ وکړو | نیک عمل | بیشکه موږ | نیکی کوونکی یو | او که چیرې | غوښتې وې موږ | نو ورکړې به وو موږ

نو واپس مو دنیا ته ولیږه چه موږ نیک عمل وکړو، زموږ اوس یقین وشو او که موږ ته منظوره وې نو هر چا ته به مو

كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا وَلَٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّي لَأَمْلَأَنَّ

هر کس ته | د ده هدایت | او لیکن | ثابته شوې ده | خبره | زما له طرف نه | چه زه به خامخا ډک کړم

خپله لار ورکړې وه ، خو زما د طرف نه دا خبره فیصله شوې ده چه دوزخ به د (بدکارو) پیریانو او

جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ⑬ فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ

دوزخ | له پیریانو | او انسانانو | ټولو نه | پس وڅکئ | په بدل د هغه کار چه تاسو هېر کړو

او بنیادمو ډک کړم نه ، نو اوس (د خپل عمل) خوند وڅکئ ځکه چه د دې

لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا إِنَّا نَسِينَاكُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ

ملاقات | د دې ورځې خپل | بیشکه موږ | هېر کړي تاسو | او وڅکئ تاسو | عذاب | د همیشه

ورځې راتګ مو هېر کړې وو . نن موږ تاسو هېر کړئ ، او د خپلو عملونو په بدل کښې د همیشه

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ⑭ إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا

په بدل د هغه | چه تاسو به کول | بیشکه چه | ایمان راوړي | په ایتونو زموږ | هغه خلق چه | هر کله

عذاب خوند وڅکئ . زموږ په ایتونو باندې هغه څوک ایمان راوړي چه څه وخت

ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا

نصیحت کولے شي دوی ته | په هغې | نو پرېوزي دوی | سجده کوونکي | او | پاکیزګي بیانوي

ورته یادولے شي ، نو په سجده کښې پرېوزي ، او د خپل رب حمد او

بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ⑮ السجدة تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ

په حمد سره | د خپل رب | او دوی | کبر نه کوي | جدا اوي | اړخونه د دوی

ثنا وائي ، او هغوی تکبر نه کوي . د هغوی اړخونه د خوب د ځایونو

عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ

له خواب ګاهونو نه | دوی بللي | خپل رب | په وېره | او په اُمید | او له هغه څه نه | چه موږ روزي ورکړې ده دوی ته

نه په ډډه وي او خپل رب ته د وېرې او اُمید دواړو تر مینځه دعا کوي او څه چه موږ هغوی ته ورکړي

يُنْفِقُونَ ⑯ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ

خرڅ کوي | پس نه دے پوهه | هیڅ نفس | په هغه څه | چه پټ مقرر شوي دي | د دوی د پاره | له یخوالي | د سترګو نه

دي د هغې نه خرڅ کوي ، نو هیچا ته معلومه نه ده چه د هغه د پاره په غیبو کښې د سترګو د یخوالي څومره ډېر سامان

جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ⑰ أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ

بدله | د هغه (عملونو) | چه دوی به کول . | آیا هغه څوک | چه وي | مؤمن | په شان د هغه چا دے

سنبال پروت دے د هغه د هغوی د خپلو عملونو بدله ده . آیا څوک چه مومن وي هغه به هم د فاسق په شان (وګڼلے)

فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ۟ؐ ﴿۱۸﴾ اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

چه فاسق وي؟ | نه برابريږي | هغه خلق چه | ايمان ئې راوړو | او عملونه ئې وكړل | نيك

شي؟ دوي هيڅ يو برابريدے نه شي. چاچه ايمان راوړو او نيك كارونه ئې وكړل،

فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۫ نُزُلًا ۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

پس دوي ځ پاره | باغونه دي | د اوسيدو | ميلمستيا | په بدله د هغې كړنې | چه دوي به كول | او هغه خلق چه

د هغوي د اوسيدو د پاره به باغونه وي دا به ميلمستيا وي د هغوي د عملونو په بدله كښې. او څوك چه فاسقان

فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَآ اُعِيْدُوْا

نافرمان وو | پس ځائے د دوي | دوزخ دے | هركله چه | دوي اراده وكړي | چه دوي ووځي | له هغې نه | نو بيرته به غورځولے كيږي

پاتے شول نو د هغوي ټيكاؤ ځائے اور دے. هركله چه ترې نه بهرته وتل غواړي نو پسته به په كښې وغورځولے

فِيْهَا وَقِيْلَ لَهُمْ ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۰﴾

په هغې كښې | او وبه ويلے شي | دوي ته | چه وڅكئ (مزه) | د عذاب | د دوزخ | هغه | كوم چه به تاسو | دروغ گڼړلو.

شي او ورته به وويلے شي چه اوس د هغه دوزخ د عذاب خوند وڅكئ چه تاسو به دروغ گڼړلو.

وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ

او مونږ به خامخا وڅكوو دوي ته | څه عذاب | د نږدے (دنيا) | د لوئے عذاب نه وړاندې | د پاره د دې چه دوي

او مونږ به ورله د هغه لوئے عذاب نه وړاندې دلته نږدے سزا هم وركړو شايد چه دوي (حق لار ته)

يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ

بيرته راوګرځي | او څوك | زيات ظالم دے | له هغه چا نه | كوم ته چه نصيحت وكړے شو | د خپل رب په آيتونو | بيا | هغه مخ واړولو

واپس شي. او د هغه چا نه بل څوك ظالم كيدے شي چه د خپل رب آيتونه ورته راياد كړے شي او ګرځے نه بيا هم

عَنْهَا ؕ اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ ۱۵ ع ۲

له هغې نه | بيشكه مونږ | له مجرمانو نه | انتقام اخستونكي يو | او بيشكه مونږ وركړے وو | موسیٰ ته | كتاب

مخ واړوي؟ مونږ به خامخا د مجرمانو نه بدله اخلو. او مونږ موسیٰ ته كتاب (تورات) وركړے وو، نو

فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۳﴾ۚ

پس مه | كيږه ته | په شك كښې | له ملاويدو د ده نه | او مونږ جوړ كړے وو دا | هدايت | د بني اسرائيلو د پاره

ته د الله تعالیٰ سره په ملاقات كښې هيڅ شك مه كوه او هغه مو د بني اسرائيلو د پاره د هدايت سبب ګرځولے وو

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا ۣؕ

او جوړ كړل مونږ | له دوي نه | پيشوايان | چه سم لار په ښئ بنودله | زمونږ په حكم | هركله چه | دوي صبر وكړو

او په هغوي كښې مو ډير پيشوايان پيدا كړي وو چه زمونږ په حكم به ئې خلقو ته سمه لار ښودله. ځكه چه ځني ئې صبر كولو.

وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۲۴﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

او وو دوي | چه زمونږ په آيتونو به ئې | يقين كولو | بيشكه | ستا رب به | فيصله وكړي | د دوي په مينځ كښې | په ورځ د قيامت

او زمونږ په آيتونو به ئې يقين كولو. بيشكه چه ستا رب به په خپله د قيامت په ورځ د دوي ترمينځه په اختلاف

فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٢٥﴾ اَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ

په هغه څه کښې چه | دوی به په هغې کښې اختلاف کولو | آیا رهنمائي ونه کړه | د دوی (دے خبرے چه) | چه څومره

خبرو کښې فیصله کوی . آیا دوی د دے خبرے نه هم سبق وانه خستلو چه مونږ د دوی

اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ

مونږ هلاک کړل | له دوی نه وړاندې | قومونه | چه دوی روان وی | د دوی په کورونو کښې | بیشکه

نه وړاندې څومره ډیر قومونه هلاک کړی دی چه (نن) دوی د هغوی په کورونو کښې ګرځی راګرځی بیشکه

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ ؕ اَفَلَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٢٦﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ

په دے کښې | نخښے دی | پس آیا دوی نه اوری ؟ | آیا نه دی کتلی دوی | چه مونږ | روانوو | اوبه

په دے کښې لوئے نخښے دی، نو آیا دوی نه اوری ؟ آیا دوی (دے خبرے) غور نه دے کړے چه مونږ اوبه او چه زمکے

اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ

طرف د زمکے | بے ګیاه ته | بیا مونږ راوباسو | په دے سره | فصل | چه خوری | له دے نه | څاروی د دوی

طرف ته رسوو ، نو مونږ د دے په ذریعه فصلونه راپیدا کوو چه د دوی څاروی ئے هم خوری

وَاَنْفُسُهُمْ ؕ اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ

او دوی په خپله (هم) | نو آیا دوی نه ګوری | او دوی وائی | کله به وی | دا | فیصله | که چرے یئ تاسو

او دوی په خپله هم نو آیا دوی نه وینی ؟ او دوی وائی که تاسو رښتینی یئ نو (وښایئ چه) دا (آخری) فیصله

صٰدِقِيْنَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اِيْمَانُهُمْ وَلَا هُمْ

رښتینی | ووایه | په ورځ د فیصلے به | نفع ورنه کړی | هغو ته چه | کافران دی | د دوی ایمان راوړل | او نه به دوی

به کله وی ؟ ورته ووایه چه د فیصلے په ورځ به کافرانو ته ایمان راوړل هیڅ فائده نه ورکوی او نه به ورته

يُنْظَرُوْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ﴿٣٠﴾

مهلت ورکولے شی | پس ته مخ واړوه | له دوی نه | او ته انتظار کوه | بیشکه دوی (هم) | انتظار کوونکی دی .

څه مهلت ورکیدے شی نو ته د دوی د ویناخیال مه ساته او (د حق د غلبے) انتظار کوه ، دوی هم (لګیا دی) انتظار کوی

سُوْرَةُ الْاَحْزَابِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَلٰثٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة احزاب په مدینه کښے نازل شوی ده | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په کښې ۷۳ آیتونه او ۹ رکوع ګانې

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے .

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اے نبی ! | ویریږه | د الله نه | او فرمانبرداری مه کوه | د کافرانو | او منافقانو | بیشکه الله

اے نبی ! ته د الله تعالیٰ نه ویره کوه او د کافرانو او منافقانو خلقو خبره مه منه . بیشکه الله تعالیٰ

كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١﴾ وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

دے | پوهه | د حکمت والا | او پیروی کوه | د هغه څه چه وحی کولے شی | تا ته | ستا د رب له طرفه | بیشکه | الله

ډیر ښه پوهه د حکمتونو خاوند دے . او د خپل رب د طرف نه چه درته کوم وحی شوے ده د هغې پیروی کوه ، بیشکه الله

السجدة ع ۲ ۱۶

كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٢﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

دے | په هغه څه چې | تاسو یې کوئ | خبردار | او توکل کوه | په الله | او کافي دے | الله

ستاسو په کارونو ښه خبردار دے. او په الله تعالیٰ توکل ساته، او هم الله تعالیٰ کافي

وَكِيلًا ﴿٣﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ

کارساز | نه دي جوړ کړي | الله | د هیڅ سړي | دوه زړونه | د ده په سینه کښې | او نه دي جوړ کړي

کارساز دے. الله تعالیٰ د هیچا په سینه کښې دوه زړونه نه دي ایښي، او تاسو چه کومو ښځو

اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓئِیْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ

ستاسو ښځې | هغه ښځې | چه ظهار کوئ تاسو | د هغوی سره | میندې ستاسو | او نه دي جوړ کړي | ستاسو ځینې ویلي زامن

سره ظهار وکړي نو هغه یې ستاسو میندې نه دي ګرځولي. او نه یې ستاسو په خوله ویلي هلکان

اَبْنَآءَكُمْ ۚ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي

ستاسو زامن | دا ستاسو خبره ده | ستاسو د خلو | او الله | وائي | حقه خبره | او دے ښائي

(په رښتیا) ستاسو زامن کړي دي، دا خو صرف ستاسو د خلې خبرې دي او الله حقه خبره کوي او هم هغه دے چه

السَّبِيْلَ ﴿٤﴾ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا

لاره | بلئ دوی | د دوی د پلارانو په نسبت | دا ښه سمه خبره ده | په نزد د الله | بیا که چرې نه پیژنئ تاسو

سمه لار ښائي، د غه هلکان د خپلو سکه پلارانو په نومونو بلئ دا خبره د الله په نزد ډیره د انصاف ده، نو که تاسو یې پلاران

اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

پلاران د دوی | نو هغه ورونړه دي ستاسو | په دین کښې | او ستاسو دوستان دي | او نشته دے | په تاسو باندې | هیڅ ګناه

نه پیژنئ، نو هغوی ستاسو دیني ورونړه او دوستان دي. او چه په دې کښې درنه څه غلطي وشي

فِيْمَآ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

په دې کښې | چه تاسو غلطي وکړئ | او لیکن هغه | چه اراده وکړه | زړونو ستاسو | او دے الله | بخښونکے

نو هیڅ ګناه دربانې نشته. خو هغه ګناه په دې کښې ده چه څه تاسو د زړه په اراده سره وکړئ او الله بخښونکے

رَّحِيْمًا ﴿٥﴾ اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗٓ

مهربان | پیغمبر | زیات حق لري | په مؤمنانو باندې | د دوی د ځانونو نه | او د پیغمبر بیبیانې

مهربان دے. نبي په مومنانو باندې د هغوی د خپلو ځانونو نه هم زیات حق لري، او د ده بیبیانې د

اُمَّهٰتُهُمْ ۗ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ

د دوی میندې دي | او رشته دار | ځینې د دوی ډیر نزدې دي له ځینو نه | د الله په کتاب کښې

مسلمانانو میندې دي. او خپل خپلوان د الله تعالیٰ په کتاب کښې د نورو (عامو) مسلمانانو او مهاجرو

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا اِلٰٓى اَوْلِيٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ۚ

له مؤمنانو | او مهاجرو نه | مګر دا چه تاسو کوئ | د خپلو دوستانو سره | څه نیکي

په مقابله کښې زیات تعلق لري، خو هغه (که تاسو خپلو دوستانو سره څه نیک سلوک کول غواړئ نو کولے شئ.

كَانَ ذٰلِكَ فِى الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿٦﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ

دے دا | په کتاب کښے | لیکلے شوے | او هر کله چه مونږ واخستله | له پیغمبرانو نه | وعده د دوی

داخبره په لوح محفوظ کښے لیکلے شوے پرته ده۔ او هغه وخت چه مونږ د ټولو پیغمبرانو نه وعده واخسته

وَمِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

او له تانه | او له نوح نه | او ابراهیم نه | او موسیٰ نه | او عیسیٰ | خوئے د مریم نه

او ستا نه هم او د نوح او ابراهیم او د موسیٰ او عیسیٰ خوئے د مریم نه هم

وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿٧﴾ لِّيَسْـَٔلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ

او واخسته مونږ | له دوی نه | وعده | پخه | چه تپوس وکړی الله | له رښتیا ویونکو نه | د دوی د رښتیا د په حقله

او د دے ټولو نه مونږ پوخ لوظ واخستلو، چه الله د رښتینو خلقو نه د خپل رښتینی تعلیم په حقله تحقیق وکړی

وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٨﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا

او دهٔ تیار کړے دے | کافرانو د پاره | عذاب | دردناک | اے ایمان والو! | یاد کړئ

او دهٔ کافرانو د پاره دردناک عذاب تیار ساتلے دے۔ اے مؤمنانو! د الله تعالیٰ دا احسان

ع ١ / ٨ / ١٧

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا

نعمت | د الله | په تاسو باندے | هر کله چه | راغلے تاسو ته | لښکرے | پس راولیږلو مونږ | په هغوی باندے | باد

را یاد کړئ هر کله چه (د غزوهٔ خندق په موقع) په تاسو باندے لښکرے راوختلے نو مونږ پرے یوه سیلئ راوستله

وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿٩﴾

او لښکرے | چه نهٔ لیدے | تاسو هغه | او دے الله | په هغه څهٔ | چه تاسو ئے کوئ | بینا

او داسے (غیبی) لښکرے مو راولیږلے چه تاسو نهٔ لیدلے او الله تعالیٰ لیدل څهٔ چه تاسو کول۔

اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ

هر کله چه راغلل دوی په تاسو | ستاسو د پاسه نه | او د لاندے نه | ستاسو | او هر کله چه واړے پاتے شوے | سترګے

څهٔ وخت چه هغوی ستاسو د بره طرف نه او ستاسو د لاندے طرف نه په تاسو را وختل او (له ویرے نه) ستاسو سترګے واړے

وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ﴿١٠﴾

او ورسیدل | زړونه | حلق ته | او تاسو ګمان کولو | د الله په حقله | ګمانونه (مختلف)

پاتے شوے او زړونه مو خولے ته راغلل، او تاسو په الله تعالیٰ باندے رنګ رنګ ګمانونه شروع کړل۔

هُنَالِكَ ابْتُلِىَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ﴿١١﴾ وَاِذْ يَقُوْلُ

دغه ځائے کښے | آزمیښت وکړے شو | د مومنانو | او وجړقولے شول دوی | په جړقولو | سخت سره | او هر کله چه ووئیل

په دغه موقع باندے د مسلمانانو پوره آزمیښت وکړے شو او په زوره زوره وجړقولے شول۔ او څهٔ وخت چه

الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ

منافقانو | او هغه خلقو | چه په زړونو د هغوی کښے | بیماری ده | چه نهٔ دے کړے وعده مونږ سره الله | او د دهٔ رسول

منافقانو او هغه کسانو چه په زړونو کښے ئے بیماری وه دا وئیل کول چه مونږ سره خو الله او د هغهٔ رسول په لوظ کښے

إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢﴾ وَإِذْ قَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ

مکر فریب | او هرکله چه | وویل | یوې ډلې | له دوی نه | اې د مدینې والو!

فریب کړې دے. او څه وخت چه یوې ټولۍ وویل د دوی څخه چه اې د مدینې خلقو!

لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا ۚ وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ

هیڅ ځائې نشته | تاسو د پاره | پس بیرته وګرځئ | او اجازت غواړي | یوه ډله | له دوی نه | له پیغمبر نه

تاسو (د دښمن مقابلې ته) نه شئ ټینګیدې نو بیرته لاړ شئ. او یوې ټولۍ د پیغمبر نه (د واپسۍ) اجازت غوښتلو، دا ئې ویل

يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۖ إِن يُرِيدُونَ

دوی وائي | چه بیشکه کورونه زمونږ | محفوظ نه دي | او نه دي هغه | غیر محفوظ | نه غواړي دوی

چه زمونږ کورونه په ډاګه پراته دي حالانکه هغه په ډاګه نه وو خو دوی صرف د تیښتې

إِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا

مګر تیښته | او که چرې داخل شي | په دوی باندې | له اطرافو د دې (مدینې) نه | بیا | دوی ته وویلې شي

زړګوروه لټول، او که چرې د مدینې د غاړو نه پرې څوک راننوځي او دوی ته د فساد جوړولو

الْفِتْنَةَ لَآتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَا إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾

د فساد د پاره | نو (فوراً) به راشي | او درنګ به تیر نه کړي | په دې کښې | مګر | لږ

وینا وکړې نو په هغې پسې به (په منډه) ورشي او په دغه کورونو کښې به ډیر لږ (ناست) پاتې شي

وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ ۚ

او بیشکه | دوی وعده کړې وه | الله سره | له دې نه وړاندې | چه دوی به نه ګرځوي | شا

او حال دا دے چه همدې خلقو د اول نه الله تعالی سره دا وعده کړې وه چه دوی به تیښته نه کوي

وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْئُولًا ﴿١٥﴾ قُل لَّن يَنفَعَكُمُ الْفِرَارُ

او ده | وعده | د الله | چه پوښتنې به شي | ووایه | هیڅ کله به فائده ورنه کړي تاسو ته | تیښته

او د الله تعالی سره شوې وعده خو خامخا پوښتنې شي. ته ورته ووایه چه تیښته هیڅ فائده نه شي درکولې

إِن فَرَرْتُم مِّنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ وَإِذًا لَّا تُمَتَّعُونَ

که چرې وتښتئ تاسو | له مرګ نه | یا د قتل کیدو نه | او دغه وخت به | تاسو ته موقع ملاو نه شي

که تاسو د مرګ یا د قتل نه تښتئ او په دغه (تیښته) کښې به فائده اوچته نه کړې شئ

إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَن ذَا الَّذِي يَعْصِمُكُم مِّنَ اللَّهِ إِنْ أَرَادَ

مګر لږه | ووایه | څوک دے | هغه کس چه | بچ کړي تاسو | د الله نه | که چرې هغه وغواړي

خو لږه. ته ورته ووایه چه څوک دي چه د الله تعالی نه به تاسو بچ کړي که چرې دے

بِكُمْ سُوءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم

تاسو ته | تکلیف رسول | یا | وغواړي | په تاسو باندې | مهربانی کول | او دوی به نه بیاموي | ځان د پاره

تاسو له تکلیف درکول وغواړي یا که په تاسو مهربانی کول وغواړي (نو څوک ئې منع کولې شي)؟ او دوی د الله تعالی نه بغیر

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِیًّا وَّلَا نَصِیْرًا ﴿۱۷﴾ قَدْ یَعْلَمُ اللّٰهُ
سیوا | دَ الله نه | څوک دوست | او نهٔ څوک مددګار | بیشکه پیژنی | الله
بل هیڅوک دوست یا مددګار مونده نهٔ شی. الله تعالیٰ په تاسو کښې هغه کسان ښهٔ پیژنی

الْمُعَوِّقِیْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِیْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَیْنَا ۚ
منع کوونکی | له تاسو نه | او (هغه چه) وائی | خپلو وروڼو ته | چه راشئ | زمونږ طرف ته
(چه په جهاد کښې دَ شریکیدو نه) منع کوی او خپلو وروڼو ته وائی، چه زمونږ طرف ته راشئ

وَلَا یَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَیْكُمْ ۖۚ فَاِذَا
او نهٔ راځی دوی | جنګ ته | مګر | لږ | شومان دی | ستاسو په حق کښې | پس هرکله چه
او (خپله هم) په جنګ کښې نهٔ شریکیږی، مګر ډیر کم. ستاسو په حق کښې ډیر شومان دی. نو هرکله چه

جَآءَ الْخَوْفُ رَاَیْتَهُمْ یَنْظُرُوْنَ اِلَیْكَ تَدُوْرُ اَعْیُنُهُمْ
راشی | ویره | نو ته به وینې دوی | چه ګوری دوی | ستا طرف ته | چه ګرځی | دَ دوی سترګې
دَ ویرې وخت راشی، نو ته به ئې وینې چه دَ ستا طرف ته ګوری چه (لوګیدو نه) دَ دوی سترګې تاوراتاوو

كَالَّذِیْ یُغْشٰى عَلَیْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ
په شان دَ هغه چا | چه بے هوشی راغلی وی | په هغهٔ | دَ مرګ | بیا هرکله چه | لاړه شی | ویره
کیږی لکه چه دَ مرګ بے هوشی پرے راغلی وی، خو چه ویره (تیره نه) لاړه شی

سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَیْرِ ۚ اُولٰٓئِكَ
نو دوی طعنے درکوی تاسو ته | په ژبو | تیزو سره | شومتیا کوونکی | په مال | هم دا خلق دی
نو دوی دَ مالِ غنیمت په لالچ کښې په تیزو ژبو سره تاسو له طعنے درکوی، دے خلقو هیڅ

لَمْ یُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ
چه ایمان ئې نهٔ دے راوړے | نو ضائع کړل | الله | عملونه دَ دوی | او دے | دا (خبره) | الله ته
ایمان نهٔ دے راوړے نو الله تعالیٰ دَ دوی ټول عملونه برباد کړل. او دا (خبره) الله تعالیٰ ته ډیره

یَسِیْرًا ﴿۱۹﴾ یَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ یَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ یَّاْتِ
آسانه | دوی خیال کوی | چه لښکرے | (لا) تللے نهٔ دی | او که چیرے راشی
آسانه ده. دوی دا خیال کوی چه (په مدینه باندې حمله کوونکې) لښکرے لا واپس تللے نهٔ دی، او که دغه لښکرے

الْاَحْزَابُ یَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِی الْاَعْرَابِ یَسْاَلُوْنَ
لښکرے | نو آرزو به کوی دوی | چه کاش دوی | بهر وتلی وے | په کلو کښې | دوی تپوس کولے
بیا راشی نو دوی به دا غوره وګڼړی چه بهر په میرو کښې دیره وی، تش ستاسو دَ

عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ۚ وَلَوْ كَانُوْا فِیْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۲۰﴾ ع ۲ ۱۲ ۱۸
ستاسو دَ خبرو نه | او که چیرے وے دوی | په تاسو کښې (موجود) | نو دوی به نهٔ جنګیدل (دښمن سره) | مګر ډیر کم
حال احوال تپوس به کوی، او که چیرے دوی تاسو سره هم وی نو په جنګ کښې به ډیره کمه حصه اخلی

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ

بیشکه | وه | تاسو دَ پاره | (په ذات دَ) رسول الله کښې | نمونه | ښه | دَ پاره دَ هغه چا

(مسلمانانو!) تاسو دَ پاره (په ډیرے سختو حالاتو کښې) دَ رسول الله په ذات کښې ښائسته نمونه موجود ده داسے

كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿٢١﴾ وَ

چه امید لری | دَ الله | او دَ ورځے | دَ آخرت | او یادوی الله | ډیر | او

خلقو له چه دَ الله نه او دَ قیامت دَ ورځے نه ویریږی او الله تعالیٰ ډیر ډیر یادوی. او څه

لَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ

هر کله چه | ولیدل | مؤمنانو | لښکرے | نو دوی ووئیل | دا دی هغه څه | چه وعده ئے کړے وه مونږ سره الله

وخت چه مؤمنانو دغه لښکرے ولیدلے نو ورته وئیل دا خو هغه (موقع) ده دَ کومے چه الله تعالیٰ او

وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ

او دَ ده رسول | او رښتیا وئیلی وو | الله | او دَ ده رسول | او زیات نه کړو په دوی کښې (څه نور) | سیوا

دَ ده رسول مونږ سره دَ وړاندې نه وعده کړے وه او الله او دَ ده رسول رښتیا وئیلی وو او (دَ کفارو دے لښکر) دَ دوی ایمان

اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ﴿٢٢﴾ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا

دَ ایمان | او فرمانبرداری نه | په مؤمنانو کښې (ډیر) | هغه سری دی | چه رښتیا ئے کړل | هغه څه

او اطاعت نور زیات کړو. په مؤمنانو کښے څه داسے دی چه دَ الله تعالیٰ سره ئے خپل

عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ

چه وعده ئے کړے وه | الله سره | په هغې | بیا څنے له دوی نه | هغه دی | چه پوره ئے کړو | خپل اقرار

لوظ په رښتیا پوره کړو نو چا خو خپله منښته پوره کړه

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِىَ اللّٰهُ

او څنے له دوی نه | هغه څوک دی چه انتظار کوی | او بدل ئے نه کړو | څه بدلول | دَ پاره دَ دے چه بدله ورکړی | الله

او څوک لا دَ وخت انتظار کوی او دوی (په خپله رویه کښے) ذره قدر هم بدل نه شول دا واقعه ځکه وشوه

الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ

رښتینی خلقو ته | په رښتیا دَ دوی | او عذاب ورکړی | منافقانو ته | که چرے | هغه وغواړی

چه الله رښتینو مسلمانانو ته دَ دوی دَ رښتیا اجر ورکړی او منافقانو ته که چرے وغواړی نو سزا ورکړی یا دَ هغوی

اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٢٤﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ

یا توبه قبوله کړی | دَ دوی | بیشکه الله | دے | بخښونکے | مهربان | او واپس کړل | الله

توبه قبوله کړی، بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے. او الله تعالیٰ کافران

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۗ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ

هغه کوم چه | کافران دی | دَ دوی دَ غصے سره | چه حاصل نه شو دوی ته (څه) ښیګړه | او کافی شو | الله | مؤمنانو دَ پاره

دَ قهره ډک واپس کړل او دَ هغوی هیڅ مراد پوره نه شو. او هم الله تعالیٰ مؤمنانو دَ پاره په جنګ کښے

الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ﴿۲۵﴾ وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ

په جنګ کښې | او دے | الله | ډیر طاقت ور | غالب | او ښکته ئې راکوز کړل | هغه کسان چه | مدد ئې کړے وو د دوی

کافي شو ، او الله تعالیٰ ډیر قوي او زبردست دے . او په اهل کتابو کښې چه کومو خلقو د مکې د

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ

له اهل کتابو نه | د دوی له کلاګانو نه | او واچولو | د دوی په زړونو کښې | رُعب

کفارو مدد کړے وو هغوی ئې د کلاګانو نه لاندې راکوز کړل او د هغوی په زړونو کښې ئې ستاسو رُعب واچولو

فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ وَتَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ﴿۲۶﴾ وَاَوْرَثَكُمْ اَرْضَهُمْ

یوه ډله | تاسو وژله | او قیدوله مو | بله ډله | او وارثان ئې کړئ تاسو | د دوی د زمکې

چه څوک مو تره نه وژل او څوک مو تره نه قیدول . او تاسو ئې د هغوی د زمکو او د کورونو

وَدِيَارَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ

او | د دوی د کورونو | او د دوی د مالونو | او د هغې زمکې | چه تاسو قدم نه وو ایښے په هغې | او دے | الله

او د نورو مالونو خاوندان کړئ او د هغې زمکې چه تاسو پرې (د جنګ په غرض) قدم قدم ایښے نه وو او الله تعالیٰ

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۷﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ ع ۳ ۱۹

په هر څیز باندې | قادر | اے نبی ! | ووایه | خپلو بیبیانو ته | که چرے

په هر څه پوره پوره قدرت لري . اے نبی ! خپلو بیبیانو ته ووایه چه که تاسو د

كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ

غواړئ تاسو | ژوند | د دنیا | او د دے ښائست | نو راشئ | چه زه تاسو له څه سامان درکړم

دنیا د ژوند خوندونه او د دے ډول سنګار غواړئ نو راشئ چه زه درله څه لږ ډیر سامان درکړم

وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۲۸﴾ وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

او رخصت کړم تاسو | په رخصت کولو | ښو سره | او که چرے تاسو | غواړئ | الله | او د ده د رسول

او په ښه مناسبه طریقه مو رخصت کړم . او که تاسو الله تعالیٰ او د ده د رسول او

وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا

او کور | د آخرت | نو بیشکه الله | تیار ساتلے دے | نیکو بیبیانو د پاره | له تاسو نه | اجر

آخرت غواړئ . نو الله تعالیٰ په تاسو کښې نیکو بیبیانو له ډیر لوئے اجر تیار

عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

ډیر لوئے | اے بیبیانو د نبی ! | څوک چه | وکړی | له تاسو نه | بدکاری | ښکاره

ساتلے دے اے د پیغمبر بیبیانو ! په تاسو کښې څوک چه څرګنده ګناه وکړی نو

يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

نو زیرګ به کړے شي | دے ته | عذاب | دوه چنده | او دے | دا (خبره) | په الله باندې | آسانه

هغې له به دوه چنده سزا ورکولے شي ، او دا کار الله تعالیٰ ته ډیر آسان دے

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعليم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا

او څوک چه | فرمانبرداري وکړي | له تاسو نه | د الله | او د ده د رسول | او عمل وکړي | نيک

او په تاسو کښے چه څوک د الله تعالیٰ او د ده د رسول اطاعت وکړي او نيک عمل وکړي ، نو

نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾

نو ورله به کړو مونږ ئے ته | اجر د دے | دوه ځله | او تيار کړے دے مونږ | د پاره د هغے | روزي | ښه

مونږ به هغے له د دے اجر په دوه ځله ورکړو او د هغے د پاره مونږ د عزت روزي تيار ساتلے ده .

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ

اے د نبي بيبيانو ! | نه يئ تاسو | په شان د يو ے هم | له ښځو نه | که چرے تاسو پرهيز ګاري وکړئ

اے د نبي بيبيانو ! تاسو د نورو عامو ښځو په شان نه يئ ــــ که پرهيز ګار اوسيدل غواړئ

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ

نو نرمي مه کوئ | په خبره کولو کښے | چه طمع وکړي | هغه سړے چه | په زړه د هغه کښے | بيماري ده

نو په نرمئ خبرے مه کوئ ، چه د چا داسے سړي طمع درته پيدا نه شي چه په زړه کښے ئے مرض پروت

وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ

او وايئ تاسو | خبره | په مناسبه طريقه | او ناستے وسئ | په خپلو کورونو کښے | او مه ښکاره کوئ

وي او سمے خبرے کوئ او په خپلو کورونو کښے قلارے ناستے وسيږئ ، او د جاهليت د تيرے زمانے

تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ

ښکاره کول د زينت | (د زمانے) د جاهليت | پخوانے | او | قائم ساتئ | مونځ | او ورکوئ

په شان چو ل سنګار مه بنايئ ، او د مونځونو پابندي ساتئ او زکوٰة

الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ

زکوٰة | او حکم منئ | د الله | او د ده د رسول | بيشکه | غواړي | الله

ادا کوئ ، او د الله او د رسول ﷺ حکمونه منئ . الله تعالیٰ ته دا منظوره ده چه له تاسو نه

لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ

چه لرے کړي | له تاسو نه | پليتي | اے اهل بيتو ! | او چه پاک کړي تاسو

هره پليتي لرے وساتي ، اے د پيغمبر د کور خلقو ! او تاسو پاکيزه

تَطْهِيْرًا ﴿۳۳﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

په پاکولو سره | او ياد وئ | څه چه لوستلے شي | ستاسو په کورونو کښے | آيتونه | د الله

وساتي ، او ستاسو په کورونو کښے چه د الله تعالیٰ کوم آيتونه او د علم خبرے لوستلے شي

وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّ

او د علم خبرے | بيشکه | الله | دے | باريک بين | خبردار | بيشکه

هغه ياد ساتئ . بيشکه چه الله تعالیٰ په هر راز پوهه په هر څه خبر دے . بيشکه مسلمانان

اَلْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ

مسلمانان سړي | او مسلمانانې ښځې | او مؤمنان سړي | او مؤمنانې ښځې | او فرمانبردار سړي

سړي او مسلمانانې ښځې ، او مؤمنان سړي ، او مؤمنانې ښځې ، او فرمانبردار سړي

وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ

او فرمانبردارې ښځې | او رښتيا ويونكي سړي | او رښتيا ويونكې ښځې | او صبر كوونكي سړي | او صبر كوونكې ښځې

او فرمانبردارې ښځې او رښتيني سړي ، او رښتينې ښځې او صابره سړي او صابرې ښځې

وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَ الْمُتَصَدِّقٰتِ

او عاجزي كوونكي سړي | او عاجزي كوونكې ښځې | او صدقه وركوونكي سړي | او | صدقه وركوونكې ښځې

او ويريدونكي سړي ، او ويريدونكې ښځې ، او خيرات كوونكي سړي او خيرات كوونكې ښځې

وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ

او روژه نيوونكي سړي | او روژه نيوونكې ښځې | او حفاظت كوونكي سړي | د شرمګاهو نو خپلو | او حفاظت كوونكې ښځې

او روژه دار سړي او روژه دارې ښځې او د خپلو شرمګاهو نو حفاظت كوونكي سړي او ښځې

وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً

او ذكر كوونكي سړي | د الله | ډير | او ذكر كوونكې ښځې | تيار ساتلې دې | الله | دوی د پاره | بخښنه

او الله تعالیٰ ډير ډير يادوونكي سړي او ښځې ، الله تعالیٰ دې ټولو له ډيره بخښنه او غټ

وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٣٥﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى

او اجر | لوی | او نشته | دې (حق) | د چا مؤمن سړي | او نه | د مؤمنې ښځې | (چې) هركله فيصله وكړي

اجر مقرر كړی دی . او د هيڅ مؤمن يا مؤمنې د پاره دا ګنجائش نشته چې

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَمَنْ

الله | او د ده رسول | د څه كار | چې | وی | دوی ته | اختيار | په خپل كار كښې | او څوك چې

هركله خدای او د ده رسول د يو كار حكم وكړی نو بيا هغوی ته د لاهم په كښې څه اختيار وی ، او څوك چې

يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴿٣٦﴾ وَاِذْ تَقُوْلُ

نافرماني وكړی | د الله | او د ده د رسول | نو بيشكه | هغه ګمراه شو | په ګمراهئ | ښكاره سره | او هركله چې | تا وويل

د الله تعالیٰ او د ده د رسول خبره ونه مني نو هغه څرګند ګمراه شو . او (ياد ساته) هركله چې تا

لِلَّذِيْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اَمْسِكْ عَلَيْكَ

هغه كس ته | چې انعام وكړو | الله | په هغه | او انعام كړی دې تا | په هغه | چې وساته | خپل ځان سره

(زيد بن حارثه ته) په چا چې الله تعالیٰ احسان كړی وو او تا هم احسان كړی وو وويل چې خپله ښځه په خپله

زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ

خپله ښځه | او وويريږه | د الله نه | او پټول تا | په خپل زړه كښې | هغه څه | چې الله | ښكاره كوونكې دی هغوو

نكاح كښې وساته او د الله تعالیٰ نه وويريږه او تا په خپل زړه كښې هغه خبره پټه ساتله كومه چې الله ښكاره كوله .

وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا
او ته ویریدلے | له خلقو نه | او | الله | زیات حقدار دے | چه ته د دوي یرې له هغه نه | بیا هرکله چه
او ته د خلقو (د اعتراض) نه ویریدلے ، حالانکه الله تعالیٰ د دے خبرې زیات حقدار دے چه ته د ده نه وویریږے ، بیا هرکله چه

قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ
پوره کړلو | زید | له هغې نه | حاجت | نو په نکاح کړه موږ تا ته دا | د پاره د دې چه | چه نه وي
زید د خپلے ښځې نه حاجت پوره کړو (او طلاق ئې ورکړو) نو موږ تا ته هغه په نکاح کړه ، د پاره د دے چه د بیا د پاره

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْۤ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا
په مؤمنانو باندې | هیڅ تنګي | په نکاح کولو د ښځو | د خُلو ویلے شوو ځامنو | هرکله چه دوي پوره کړي
مسلمانانو ته د هغې چا د ښځو په واده کولو کښې هیڅ تنګي پاتے نه شي چه د خولے په ځامنو ئې نیولي وي څه وخت چه د

مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾ مَا كَانَ
له دوي نه | حاجت | او دے | حکم | د الله | خامخا کیدونوالا | نشته دے
هغوي زړه له تورے نه ماړه شي . او د الله تعالیٰ حکم خامخا پوره کیږي . دے پیغمبر له چه الله تعالیٰ

عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ سُنَّةَ
په نبي باندې | (څه) ګناه | په هغه (خبره) کښې | چه مقرر کړه | الله | ده د پاره | دا طریقه ده
کومه خبره مقرر کړے ده په هغې کښې په دے نبي هیڅ الزام نشته . د مخکنو (پیغمبرانو)

اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا
د الله | په هغه خلقو کښې (چه) | تیر شوي دي | وړاندې له دے نه | او دے | حکم د الله | مقرر شوے
په حقله الله تعالیٰ هم دغه قاعده مقرر کړے وه . او د الله تعالیٰ د هر کار اندازه مقرر

مَّقْدُوْرَا ۙ ﴿۳۸﴾ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ
په (صحیح) اندازه | هغه خلق چه | رسوي | پیغامونه | د الله | او ویریږي له ده نه
شوے ده . دا ټول هغه پیغمبران دي چه د الله تعالیٰ پیغامونه ئې (خلقو ته) رسول او له ده نه ویریدل او د

وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ﴿۳۹﴾ مَا كَانَ
او نه ویریږي دوي | له هیچا نه | سیوا د الله نه | او کافي دے الله | حساب اخستونکے | نه دے
الله تعالیٰ نه سیوا د هیچا نه نه ویریدل او حساب اخستلو له یوازے الله تعالیٰ کافي دے . محمد ستاسو

مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ
محمد | پلار | د هیچا | ستاسو له سړو نه | لیکن | رسول دے د الله | او خاتم دے
په سړو کښې د هیچا پلار نه دے ، هغه خو د الله تعالیٰ یو رسول دے او آخري

النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا
د نبیانو | او دے | الله | په هر | څیز | پوهه | اے مؤمنانو !
نبي دے . او الله تعالیٰ ته هر څیز ښه معلوم دے . اے مؤمنانو !

اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿٤١﴾ وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ

یادکړئ | الله | په یادولو | ډیرو سره | او پاکي بیان کړئ د ده | سحر | او ماښام | هم دے دے

تاسو الله تعالیٰ ډیر ډیر یادوئ ، او سحر ماښام د ده تسبیح ولئی الله تعالیٰ داسے

الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

کوم چه | رحمت لیږی | په تاسو | او د ده فرښتے | د پاره د دے چه د وباسی تاسو | له تیارو نه

ذات دے چه دے او د ده فرښتے په تاسو رحمتونه رالیږی ، چه د (کفر د) تورو تیارو نه مو (د اسلام) رڼا

اِلَى النُّوْرِ ؕ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ

طرف د رڼا ته | او دے الله | په مؤمنانو باندے | مهربان | د دوی د پاره دعا به وی | په کومه ورځ چه

ته راوباسی او دے په مؤمنانو ډیر زیات مهربان دے الله تعالیٰ سره د ملاقات په ورځ به د

يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۖۚ وَاَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿٤٤﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

دوی ملاقات به کوی د ده سره | سلام | او ده تیار کړے دے | دوی د پاره | اجر | د عزت | اے نبی !

دوی دعا داوی چه "السلام علیکم" او الله تعالیٰ ورله ډیره ښه بدله تیاره کړے ده. اے پیغمبره ! موږ ته یو

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿٤٥﴾ وَّدَاعِيًا

بیشکه موږ | رالیږلے یئے ته | گواهی ورکوونکے | او زیرے ورکوونکے | او ویروونکے | او بلونکے

داسے رسول لیږلے یئے چه گواه هم یئے او (نیکانو ته) زیرے ورکوونکے هم او (د بدانو) ویروونکے هم یئے. او د الله

اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ

د الله طرف ته | د ده په حکم | او ډیوه | روښانه | او زیرے ورکړه | مسلمانانو ته | د دے خبرے چه

طرف ته د هغه په حکم رابلونکے هم یئے او یوه روښانه ډیوه یئے. او ته مؤمنانو له زیرے ورکړه چه په هغوی

لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا كَبِيْرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ

دوی د پاره | د الله د طرف نه | فضل دے | ډیر لوئے | او خبره مه منه | د کافرانو

د الله د طرف نه لوئے فضل کیدونکے دے . او د کافرانو او منافقانو

وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى

او د منافقانو | او پرواه مه کوه | د دوی د تکلیف ورکولو | او توکل کوه | په الله باندے | او کافی دے

خبرے مه منه. او د دوی د لاسه د رسیدونکی تکلیف پرواه مه ساته او په الله باورلره او الله ورله

بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٤٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ

الله | کارساز | اے خلقو (چه) | ایمان مو راوړے دے | هرکله چه تاسو نکاح کوئ | مؤمنانو ښځو سره | بیا

کافی کارساز دے اے مؤمنانو ! هرکله چه تاسو د مسلمانانو ښځو سره نکاح وکړئ ، بیا

طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ

تاسو طلاق ورکوئ دوی ته | وړاندے له دے نه | چه | تاسو لاس یوسئ دوی ته | نو نشته | تاسو له | د دوی په ذمه | څه عدت

د لاس لګولو نه ورله وړاندے طلاق ورکړئ ، نو ستاسو په وجه په هغوی هیڅ عدت مقرر نشته

تَعْتَدُّونَهَا ۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾

چه تاسو پوره کړئ شمیره د هغې | نو ورکړئ دوی ته څه فائده | او رخصت کړئ دوی | په رخصتولو | ښه سره .

چه شمیره ئې وکړئ نو څه مناسب سامان ورته ورکړئ ، او په ښه طریقه ئې رخصت کړئ

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ

اے نبی ! | بیشکه حلال کړے مونږ | د پاره ستا | بیبیانې ستا | هغه چه | ورکړے دے تا

اے نبی ! مونږ تا ته ستا بیبیانې حلالې کړې دي چه تا ورته مهر ادا کړے

أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ

مهر د هغوی | او هغه (وینځې) | چه مالک شو د هغوی | ستا لاس | له هغو نه | چه درکړی دي | الله

دے ، او هغه وینځې هم چه ستا په ملکیت کښې دي چه الله تعالیٰ درته په غنیمت کښې

عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ

تا ته (په طور د غنیمت) | او لونړه ستا د تره | او لونړه ستا د ترورګانو | او لونړه ستا د ماما | او لونړه ستا د خاله ګانو

درکړی دي ، او ستا د تره لونړه او ستا د ترورګانو لونړه او ستا د ماما لونړه او ستا د خاله ګانو لونړه

اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ

هغه چه | هجرت ئې کړے دے | تا سره | او ښځه | مسلمانه | که چرے | وبخښي

هغه چه تا سره ئې هجرت کړے دے او هغه مؤمنه ښځه چه خپل ځان (بے عوضه) نبی

نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَن يَسْتَنكِحَهَا ۖ خَالِصَةً

خپل ځان | نبی ته | که چرے | وغواړي | نبی | چه | په نکاح کړي هغه | (دا حکم) خاص

ته وبخښي ، هله که پیغمبر ئې په نکاح کښې راوستل وغواړي ، دا حکم خاص ستا

لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۗ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ

تا د پاره دے | سیوا | د نورو مؤمنانو نه | بیشکه مونږ پوهه یو | په هغه څه | چه فرض کړل مونږ | په دوی باندې

د پاره دے نورو مؤمنانو له دا اے حکم نه دے مونږ ته هغه حکمونه معلوم دي چه دوی باندې مو د

فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُونَ

د دوی د بیبیانو په حقله | او د هغو (وینځو) په حقله | چه مالک شو هغوی ته | لاس د دوی | چه نه وي

بیبیانو او د وینځو په حقله مقرر کړی دي ، د پاره د دے چه په تا

عَلَيْكَ حَرَجٌ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٠﴾ تُرْجِي مَن تَشَاءُ

په تا باندې | څه تنګسیا | او دے | الله | ډیر بخښونکے | مهربان | ته لرے ساته | کومه چه | ته غواړے

باندې څه تنګسیا رانه شي ، او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے مهربان دے په بیبیانو کښې ته چه کومه غواړے

مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَن تَشَاءُ ۖ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ

له هغوی نه | او ځائے ورکوه | خپل ځان سره | کومه چه | ته وغواړے | او کومه چه | ته وغواړے | له هغوی نه

نو د ځانه ئې په ډډه وساته او کومه چه ته غواړے نو ځان ته ئې رانزدے کړه او کومه چه دې په ډډه ساتلے وي که هغه

عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۚ ذٰلِكَ أَدْنٰىٓ أَنْ تَقَرَّ

چه ډېرې ته کړې دې تا | نو نشته څه ګناه | په تا بانديې | دا (حکم) | زيات نژدې دې | (د دې ته) چه يخې شي

(بيا نژدې کول) وغواړې نو په ډې کښې هيڅ ګناه نشته. په دې (حکم) سره زيات اميد دې چه د هغوئ

أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ۚ وَاللّٰهُ

سترګې د دوی | او دوی غمژنې نه وی | او دوی راضي وی | په هغه څه | چه ورکړې ته دوئ | ټولو ته | او الله

سترګې يخې شي او غمژنې نه شي او ته چه څه هغوئ له ورکړې هغه ټولې په هغې راضي وي. او الله تعالىٰ

يَعْلَمُ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ﴿٥١﴾ لَا يَحِلُّ

پوهيږي | په هغه څه | چه ستاسو په زړونو کښې دي | او دې | الله | پوهه | بردباره | حلال نه دي

ته ستاسو د زړونو حال معلوم دې، او هغه په هر څه پوهه بردباره دې. د دې موجوده ښځو

لَكَ النِّسَآءُ مِنْ بَعْدُ وَلَآ أَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَّلَوْ

تا د پاره | ښځې | پس له دې نه | او نه دا چه | ته بدلې کړې | په ځائې د دوی | نورې بيبيانې | اګر که

نه علاوه نورې ښځې (واده کول) تا له حلالې نه دي او دا هم روا نه دي چه ته د دوئ په بدل کښې نورې ښځې واخلې اګر که

أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ

په تعجب کښې اچوی تا | ښائست د هغوئ | مګر | هغه چه پرې مالک شو | لاس ستا | او دې الله

د هغوئ ښائست د زړه ته پريوځي، سيوا د دې نه چه ستا وينځه وي. او الله تعالىٰ په

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيْبًا ﴿٥٢﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ ع

په هر | څيز | نګهبان | اې | ايمان والو! | مه داخليږئ | په کورونو کښې

هر څيز باندې نګران دې. اې مؤمنانو! د پيغمبر کورونو ته مه ورننوزئ

النَّبِيِّ إِلَّآ أَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ إِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ

د نبي | مګر (هغه وخت) | چه | اجازت درکړې شي | تاسو ته | د طعام د پاره | نه انتظار کوونکي

خو هله ورننوزئ چه د خوراک د پاره درته اجازت درکړې شي، په دې شان چه د هغې طعام د پخلې

إِنٰىهُ ۙ وَلٰكِنْ إِذَا دُعِيْتُمْ فَادْخُلُوْا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا

د پخلې د هغې | او ليکن | هر کله چه | وبللې شئ تاسو | نو داخل شئ | بيا هر کله چه | تاسو طعام وخورئ | نو خواره واره شئ

انتظار مه کوئ خو کله چه دعوت درکړې شي نو هله ورشئ، بيا چه ډوډۍ وخورئ نو خواره واره شئ

وَلَا مُسْتَأْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ ۚ إِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ

او ناست مه پاتې کيږئ | خبرو د پاره | بيشکه | ستاسو دا خبره | تکليف رسوی | نبيّ ته

او خبرو ته بنسخ ناست مه پاتې کيږئ، بيشکه ستاسو په دې خبرو پيغمبر ته تکليف رسي

فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ ۫ وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ ۚ وَإِذَا

پس د حيا کوی | له تاسو نه | او الله | نه شرميږي | له حق (بيانولو) نه | او هر کله چه

خو هغه ستاسو لحاظ کوی، او الله تعالىٰ په صفا وينا کښې لحاظ نه کوی. او هر کله چه

سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ
ستاسو دا خبره | د پردے | له وروستو نه | نو غواړئ له دوی نه | څهٔ څيز | غواړئ تاسو له بيبيانو د نبیؐ نه
دا کار ستاسو او | نو د پردے شاته ئے غواړئ ، | د پيغمبرؐ د بيبيانو نه څهٔ څيز غواړئ

اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا
زيات پاکيزه دے | ستاسو زړونو د پاره | او د دوی د زړونو د پاره | او نهٔ دی (جائز) تاسو د پاره | چه | تاسو تکليف ورکړئ
او تاسو د پاره دا جائز نهٔ دی چه د الله تعالیٰ رسولؐ | ډيره پاکيزه طريقه ده | د هغوی د زړونو د پاره

رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا ؕ اِنَّ
رسول | د الله ته | او نهٔ دا چه | تاسو نکاح وکړئ | د دهٔ د بيبيانو سره | پس له دهٔ نه | هيڅ کله | بيشکه
داخبره د الله | يا دا چه د هغهٔ نه پس د هغهٔ بيبيانو سره چرے نکاح وُ تړئ ، | ته تکليف ورکړئ

ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ٥٣ اِنْ تُبْدُوْا شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ
ستاسو دا خبره | ده | د الله په نزد | لويه (گناه) | که چرے تاسو ښکاره کوئ | څهٔ څيز | يا تاسو پټ ساتئ هغه
که تاسو يوه خبره ښکاره کړئ او که پټه ئے وساتئ | په نزد ډيره غټه گناه ده .

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ٥٤ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ
نو بيشکه | الله | دے | په هر څيز باندې | پوهه | نشته دے (هيڅ) گناه | په دوی باندې
د پيغمبرؐ بيبيانو له خپلو پلارانو او | نو الله تعالیٰ ته هر څيز ډيرښهٔ معلوم دے .

فِيْٓ اٰبَآئِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ
د خپلو پلارانو (په وړاندې راتلو کښې) | او نهٔ د خپلو ځامنو | او نهٔ د خپلو ورونړو | او نهٔ | د خپلو ورونړو د ځامنو
او ځامنو او ورونړو او وريرونو او خوريونو او خپلو (مسلمانو) زنانوُ

وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ۚ
او نهٔ د ځامنو | د خپلو خويندو | او نهٔ | د خپلو (هم جنسو) ښځو | او نهٔ د هغه چا | چه مالک شوی دی | په لاس د دوی (وينزے)
او تاسو | نشته ، | هيڅ پابندی | (په مخامخ کيدو باندې) | ته | او خپلو وينځو ته

وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ٥٥ اِنَّ اللّٰهَ
او ووېرېږئ | د الله نه | بيشکه | الله | دے | په هر څيز باندې | گواه | بيشکه | الله
بيشکه الله تعالیٰ | الله تعالیٰ په هر څيز باندې گواه دے . | د الله تعالیٰ نه ويره ساتئ .

وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا
او د دهٔ فرښتے | درود لېږی | په نبیؐ باندې | اے ايمان والو ! | تاسو (هم) درود ولېږئ
تاسو هم په دهٔ | اے ايمان والو ! | او د دهٔ فرښتے په نبیؐ باندې رحمتونه لېږی

عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ٥٦ اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ
په دهٔ باندې | او سلام ووايئ | په سلام ويلو سره | بيشکه | کوم خلق چه | تکليف ورکوی | الله | او د دهٔ رسول ته
څوک چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسولؐ له تکليف ورکوی | باندې درود او سلام لېږئ .

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا

لعنت وکړو په دوی باندې | الله | په دنیا کښې | او په آخرت کښې | او تیار کړے ئې دے | دوی دپاره | عذاب

نو الله تعالیٰ په پرے په دنیا او آخرت دواړو کښې لعنت وروی او هغوی له ئې سپکوونکے عذاب تیار

مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا

رسوا کوونکے | او کوم خلق چه | تکلیف ورکوی | مؤمنانو سړو | او مؤمنانو ښځو ته | بغیر | د څه (ګناه) کړے نه

ساتلے دے. او څوک چه مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو له بے ګناه بے قصوره تکلیف ورکوی

فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ

نو بیشکه اوچت کړو دوی | بهتان | او ګناه | واضحه | اے نبی! | ووایه

نو هغوی د پیرتوے بهتان تکوی او ښکاره ګناه کوی ، اے پیغمبره! خپلو بیبیانو ته او

لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ

خپلو بیبیانو ته | او خپلو لوڼو ته | او ښځو | د مؤمنانو ته | چه راښکته ساتی | په خپلو ځانونو

خپلو لوڼو ته او د نورو مسلمانانو بیبیانو ته ووایه چه خپل څادرونه لږ راښکته

مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ؕ

خپل څادرونه | دا (خبره) | زیاته نزدے ده | (دے ته) چه | دوی وپیژندے شی | نو دوی ته به تکلیف نه شی ورکولے

ساتی. دغه شان به (ر) پیژندے شی او دوی ته به (د بے هوده سړو د طرف نه) څه تکلیف نه رسی

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۵۹﴾ لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ

او دے | الله | ډیر بخښونکے | مهربان | که چرے | منع نه شول | منافقان | او هغه خلق

او الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے. که چرے منافقان او هغه خلق د کومو په زړونو کښے

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ

چه په زړونو د هغوی کښے | مرض دے | او هوائی خبرے خوروونکی | په مدینه کښے | نو خامخا به مسلط کړو مونږ تا

چه خرابی ده او هغه خلق چه په مدینه کښے هوائی خبرے خوروی منع نه شول ، نو مونږ به درپسے

بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۶۰﴾ مَّلْعُوْنِيْنَ ۛۚ اَيْنَمَا

په دوی باندې | بیا به | دوی پاتے نه شی تاسره | په مدینه کښے | مګر | لږه موده | لعنت کړی شوی | کوم ځائے چه

تاو پاڅوو نو بیا به دوی تاسره په مدینه کښے ډیر لږ پاتے شی او لعنتیان به پاتے شی ، هر ځائے چه

ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿۶۱﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ

وموندے شی | ونیولے به شی | او وبه وژلے شی | په ښه وژلو سره | (دا) دستور د الله دے | په هغو خلقو کښے

موندلے شی نو نیولے به شی او وژلے به شی. الله تعالیٰ د پخوانو (قامونو) په حقله هم دا

خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۶۲﴾ يَسْئَلُكَ

چه تیر شوی دی | د وړاندې نه دوی | او ته به هیڅکله بیا نه مومے | د الله په دستور کښے | څه بدلون | تپوس کوی له تا نه

دستور ایښے وو او د الله تعالیٰ په دستور کښے په هیڅ قسم له تبدیلی بیا نه مومے. د اخلق له تا نه

النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ
خلق | دَ قيامت په حقله | وو ايه | بيشكه | علم دَ دے | الله سره دے | او تا ته څهٔ خبر دے
دَ قيامت (دَ نيټے) په حقله تپوس کوی، ورته وو ايه چه دَ هغے حال (پوهه) الله تعالیٰ ته معلوم دے او تا ته څهٔ معلومه
لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ
شايد چه | قيامت | وی | نزدے | بيشكه | الله | لعنت كړے دے | په كافرانو | او تيار كړے ئے دے
ده؟ كيدے شی چه قيامت ډير را نزدے وی. بيشكه الله تعالیٰ كافران دَ خپل رحمت نه لرے ساتلی دی او هغوئی له
لَهُمْ سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا
دوئی دَ پاره | دَ لمبو اور | تل تر تله به وی دوی | په هغے كښے | هميشه | نهٔ به بيا مومی | څوک دوست
ئے دَ لمبو اور تيار كړے دے چه هميشه به په كښے پراته وی. هيڅوک به خپل يار يا مددگار
وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِى النَّارِ يَقُوْلُوْنَ
او نهٔ (څوک) مددگار | په كومه ورځ چه | اړولی راړولی به شی | مخونه دَ دوی | په اور كښے | دوی به وائی
بيا نهٔ مومی. په كومه ورځ چه دَ هغوئی مخونه په دوزخ كښے اړولی راړولی شی نو دا به وائی چه
يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴿٦٦﴾ وَقَالُوْا رَبَّنَآ
اے كاش زمونږ | چه اطاعت كړے وے مونږ | دَ الله | او اطاعت كړے وے مونږ | دَ رسول | او دوی وو ئيل | اے زمونږ ربه!
اے كاش! كهٔ مونږ دَ الله حكمونه منلی وے او دَ رسول فرمان مو په ځائے كړے وے او دا به وائی چه اے زمونږه ربه!
اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ
بيشكه مونږ حكم منلے وو | دَ خپلو سردارانو | او دَ خپلو مشرانو | پس دوئی مونږ بے لارے كړو | دَ (حق) لارے نه | اے زمونږ ربه!
مونږه به دَ خپلو سردارانو او دَ خپلو مشرانو خبرے منلے، نو دَ لارے نه ئے بے لارے كړو. اے زمونږه ربه!
اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿٦٨﴾
وركړه دوی ته | غبرګ | عذاب | او لعنت وكړه په دوی | لعنت | لوئے
هغوئی له دوچنده سزا وركړه، او غټ غټ لعنتونه پرے ووروه
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ
اے | ايمان والو! | مهٔ كيږئ تاسو | په شان دَ هغه خلقو | چه تكليف ئے وركړے وو | موسیٰ ته | بيا بری كړو دے | الله
اے مومنانو! تاسو دَ هغه چا په شان مهٔ كيږئ چه موسیٰ له ئے تكليفونه وركول نو الله تعالیٰ هغه دَ خلقو
مِمَّا قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ﴿٦٩﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا
له هغه څه نه | چه وئيل وو دوی | او وو دے | په نزد | دَ الله | ډير مخور رېز | اے ايمان والو!
دَ خبرو نه بری كړو او هغه دَ الله تعالیٰ په نزد ډير عزتمند وو. اے مومنانو!
اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿٧٠﴾ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ
ووېرېږئ | دَ الله نه | او وايئ | خبره | سمه | دے به درست كړی | تاسو دَ پاره | ستاسو عملونه
دَ الله نه وويرېږئ او خبره سمه (او رښتينې) كوئ. الله تعالیٰ به ستاسو عملونه صالح كړی

وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ فَقَدْ فَازَ

او معاف به کړی | تاسو ته | گناهونه ستاسو | او څوک چه | حکم ومنی | د الله | او د ده د رسول | نو بیشکه هغه کامیاب شو

او ستاسو گناهونه به بخښی ، او چا چه د الله او د ده د رسول خبره ومنله نو هغه ډیر زیات

فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾ اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

په کامیابئ | لوئے سره | بیشکه | موږ پیش کړو | خپل امانت | په آسمانونو | او په زمکه

کامیاب شو . موږ آسمانونو ، زمکے او غرونو ته (د اطاعت د ذمه دارئ اوچتولو) امانت پیش

وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا

او په غرونو | نو دوی انکار وکړو | چه اوچت کړی دوی دا | او دوی وویریدل | له هغے نه | او اوچت کړو دا

کړو نو ټولو د دے (غټه) ذمه وارئ د قبلولو نه انکار وکړو او له دے نه وویریدل او یوازے انسان دو چه دا

الْاِنْسَانُ ۗ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا جَهُوْلًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ

انسان | بیشکه دے | وو | ډیر ظالم | ډیر نادان | چه عذاب ورکړی | الله

ذمه وارئ ئے قبوله کړه هغه بیشکه ډیر ظالم او نادان دے . نو نتیجه دا شوه چه الله تعالیٰ به

الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ

منافقانو سړو ته | او منافقانو ښځو ته | او مشرکانو سړو ته | او مشرکانو ښځو ته | او توبه قبوله کړی

منافقانو سړو ، منافقانو ښځو او مشرکانو سړو او مشرکانو ښځو له سزا ورکړی او د مؤمنانو سړو او

اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٧٣﴾

الله | د مؤمنانو سړو | او د مؤمنانو ښځو | او دے | الله | بخښونکے | مهربان

د مؤمنانو ښځو گناهونه به معاف کړی او الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے .

سُوْرَةُ سَبَاٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اَرْبَعٌ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَسِتُّ رُكُوْعَاتٍ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة سبا په مکه کښے نازل شوه او په دے کښے ۵۴ ایتونه او ۶ رکوع گانې دی | (شروع) د الله په نوم سره چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

ټول تعریفونه | الله لره دی | هغه الله | د کوم چه دی | څه چه په آسمانونو کښے دی | او څه چه په زمکه کښے دی

ټول تعریفونه یوازے الله تعالیٰ لره دی چه د هر هغه څیز مالک دے چه په آسمانونو او زمکه کښے دے

وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ۗ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿١﴾

او هم د ده دی | ټول تعریفونه | په آخرت کښے (هم) | او هم دے دے | حکمت والا | خبردار

او په آخرت کښے هم ټول تعریفونه هم د ده د پاره دی او هغه د حکمتونو خاوند او په هر څه خبر دے .

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا

دے پوهه دے | په هغه څه | چه داخلیږی | په زمکه کښے | او په هغه څه چه اوځی | له دے نه | او څه چه

هغه ته ټول معلوم دی هر څه چه په زمکه کښے دننه ورننوځی او هر څه چه ترے نه بهر راوځی او هر څه چه

يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ الرَّحِيمُ

نازلیږي | له آسمان نه | او څهٔ چه | پورته خيژي | په دے کښے | او دے | مهربان

له آسمان نه راکوزيږي او څهٔ چه آسمانونو ته خيژي ، او هغه ډير رحم کوونکے

الْغَفُورُ ٢ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ قُلْ

بخښونکے دے | او وائي | کوم خلق چه | کافران دي | چه نهٔ به راځي په مونږ | قيامت | وُ دا يه

زيات بخښونکے دے. او دا کافران وائي چه په مونږ به قيامت نهٔ راځي . (اے پيغمبره!) ته وُ وايه

بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ

ولے نه | زما په رب قسم وي | هغه به ضرور راځي په تاسو | عالم دے | په غيبو | نهٔ پټيږي

چه ولے به نهٔ راځي ؟ زما د رب قسم دے ! چه عالم الغيب دے چه خامخا به در باندې راځي ، دَ هغهٔ نه يوه

عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا

له دهٔ نه | په وزن | دَ يوے ذرے | په آسمانونو کښے | او نهٔ | په زمکه کښے | او نهٔ

ذره قدر له هم پټه نهٔ ده نهٔ په آسمانونو کښے او نهٔ په زمکه کښے ، او نهٔ دَ دے

أَصْغَرُ مِنْ ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ٣ لِيَجْزِيَ

زيات وړوکے | له دے نه | او نهٔ ډير لوئے | مګر | (درج) دي په کتاب | ښکاره کښے | چه جزا ورکړي

(ذرے) نه وړوکے او نهٔ ترے نه لوئے څيز خو دا هر څهٔ په يو ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کښے درج دي ، دَ پاره دَ

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ

هغه کسانو ته | چه ايمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل | ښهٔ | هم دا کسان دي | چه ددوي دَ پاره | بخښنه ده

دے چه الله تعالیٰ اجر ورکړي هغه مؤمنانو له چه نيک کاروونه کوي ، هم دا هغه خلق دي چه ددوي دَ پاره

وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ٤ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ

او روزي | دَ عزت | او کوم خلقو چه | کوشش وکړو | زمونږ په آيتونو کښے | دَ رد کولو

مغفرت او دَ عزت روزي ده . او هغه خلق کوم چه زمونږ دَ آيتونو دَ ناکامه کولو کوشش وکړو

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِنْ رِجْزٍ أَلِيمٌ ٥ وَيَرَى الَّذِينَ

هم دا کسان دي | چه ددوي دَ پاره | عذاب دے | له سزا | دردورکوونکے نه | او ويني | هغه خلق کوم چه

هغوئي له به دَ (زنګ زنګ) سختئ نه ډک دردناک عذاب ورکولے شي . او کوم خلقو ته چه علم ورکړے

أُوتُوا الْعِلْمَ الَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ

چه ورکړے شو | علم | هغه څيز | چه نازل شو | تا ته | ستا دَ رب له طرف نه | چه دا حق دے

شوے دے هغوئي پوهيږي چه کوم (کلام) ستا دَ رب له طرف نه په تا نازل شوے دے هغه بالکل رښتينے دے

وَيَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ٦ وَقَالَ الَّذِينَ

او هغه ښائي | لاره | (دَ الله) | چه غالب | او دَ حمد و ثنا لائق دے | او وائي | هغه خلق چه

او دا کلام (خلقو ته) لار ښائي دَ غالب او دَ تعريفونو لائق خدائے طرف ته . او کافرانو (يو بل ته) ووئيل

كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمْ اِذَا مُزِّقْتُمْ

تاسو ریزه ریزه کړے شئ | هر کله چه | چه تاسو ته خبر ورکوی | هغه سړے | آیا مونږ وښایو تاسو ته | کافران دی

چه راشئ چه دا سړے درته وښایو چه هغه درته دا خبر درکوی چه څهٔ وخت تاسو ریزه ریزه شئ

كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۚ﴿٧﴾ اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

په الله باندې | آیا دهٔ تړلی دی | سر دوباره راپیدا کیږئ | نو بیشکه تاسو به | په پوره ریزه ریزه کیدو سره

نو بیا به تاسو سر دوباره راپیدا کیږئ ۔ آیا دهٔ په الله تعالیٰ باندې دروغ تړلی

كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلِ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

په آخرت باندې | یقین نهٔ کوی | هغه خلق چه | بلکه | لیونتوب دے | یا په دهٔ | دروغ

دی او کهٔ لیونے شوے دے؟ (نه) بلکه هغه خلق کوم چه په آخرت باندې یقین نهٔ لری

فِي الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ﴿٨﴾ اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

چه د دوی په وړاندې دی | طرف د هغه څهٔ ته | آیا دوی کتلی نهٔ دی | لرے کښې دی | او په ګمراهئ | په عذاب کښې

هغوئ په عذاب کښې او په اوږده ګمراهئ کښې پراتهٔ دی۔ آیا دوئ آسمان او زمکے ته نهٔ دی

وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ

نو ښخوو به کړو مونږ | کهٔ چرے مونږ وغواړو | او زمکے نه | له آسمان | او د دوی نه وروستو دی | او څهٔ چه

کتلی چه د دوئ نه وړاندې او وروستو خواره شوی دی، کهٔ چرے مونږ وغواړو نو دوئ به

بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاۗءِ ۭ اِنَّ

بیشکه | له آسمان نه | ټکړے | په دوئ باندې | یا به مونږ وغورزوو | په زمکه کښې | دوی

په زمکه کښې ښخ کړو یا به په دوئ له آسمان نه ټکړے راوغورزوو ۔ یقیناً په

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۧ﴿٩﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ ع

داؤد ته | مونږ ورکړے وو | او بیشکه | رجوع کوونکی | بنده | د پاره د هر | نخښه ده | په دے کښې

دے کښې د عبرت نخښه ده هغه بنده د پاره چه الله طرف ته رجوع کوی ۔ او یقیناً مونږ داؤد ته خپل نعمتونه

مِنَّا فَضْلًا ۭ يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ وَاَلَنَّا

او نرمه کړله مونږ | او (اے) مارغانو (تاسو هم) | د دهٔ سره | تسبیح کوئ | اے غرونو! | فضیلت | له خپل طرفه

ورکړی وو (او حکم مو ورکړو چه) اے غرونو! داؤد سره تسبیح لولئ او مارغانو ته هم دا حکم وو او مونږ دهٔ د

لَهُ الْحَدِيْدَ ﴿١٠﴾ۙ اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ

په (کړو) جوړولو کښې | او اندازه ساته | کشاده زغرے | جوړے کړه | چه | دهٔ د پاره اوسپنه

پاره اوسپنه نرمه کړه او (حکم مو ورکړو) چه پوره پوره زغرے جوړوئ او د کړو جوړولو اندازه مقرر کړئ

وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ۭ اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿١١﴾ وَلِسُلَيْمٰنَ

او سلیمان د پاره (مونږ تابع کړله) | ګورم | چه تاسو کوئ | هغه څهٔ ته | بیشکه زهٔ | نیک | او عمل کوئ

او ښهٔ عملونه کوئ بیشکه زهٔ ستاسو عملونه وینم ګورم ۔ او مونږ هوا د سلیمان

الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَأَسَلْنَا

او هیولے وه موږ | دَ یوې میاشتې (سفر) | او دَ ماښام تلل (هم) | دَ یوې میاشتې (سفر) دي | دَ ګهیځ سحره تلل | هوا

او موږ دَ هغه دَ پاره دَ هوا تابع کړله چه سحر به ئې هم دَ میاشتې هومره منزل کولو او ماښام به ئې هم دَ میاشتې هومره منزل کولو

لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ ۖ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ

دَ هغه په وړاندې | چه کار به ئې کولو | (داسې ؤو) | او له پیریانو نه (ځنې) | دَ (ویلې شوې) تانبې | چینه | دَ هغه دَ پاره

او دَ خدائے پاک په ... هغه دَ پاره دَ ویلې شوې تانبې چینه جاري کړله او ځنې پیریان داسې وو چه دَ هغه په وړاندې به ئې

بِإِذْنِ رَبِّهِ ۖ وَمَنْ يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ

نو موږ به وُڅکوو دَه ته | زموږ له حکم نه | له دوی نه | واوړي | او څوک چه | دَ رب دَ دهٔ | په حکم

حکم کار خدمت کولو او که څوک په دوی کښې زموږ دَ حکم (یعنی اطاعت دَ سلیمان) نه کوږ شي نو موږ به هغه ته

مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿١٢﴾ يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِنْ مَحَارِيبَ

دنګ دنګ ځایونه | هغه څه چه دهٔ به غوښتل | دهٔ دَ پاره | دوی به جوړول | دَ دوزخ نه | له عذاب

دَ جهنم دَ عذاب مزه وُڅکوو - دے پیریانو به سلیمان ؑ له دَ دهٔ دَ مرضئ څیزونه جوړول لکه دنګ دنګ ځایونه

وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَاسِيَاتٍ ۚ اعْمَلُوا

عمل کوئ | کلک په ځائے پراته | او دیګونه | په شان دَ تالابونو | او خانکونه | او تصویرونه

او تصویرونه او دَ تالاب غوندې لوئے لوئے خانکونه او لوئے لوئے دیګونه چه (هم په یو ځائے به) پراته وو. اے دَ داؤد

آلَ دَاوُودَ شُكْرًا ۚ وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ ﴿١٣﴾ فَلَمَّا

بیا هر کله چه | شکر کوونکي | زما له بندګانو نه | او لږ دي | دَ شکر | اے آل دَ داؤد

کورنئ (دَ الله تعالیٰ) شکر په ځائے راوړئ او زما په بندګانو کښې شکر کوونکي ډیر کم دي. نو څهٔ وخت چه

قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ

یو وینهٔ (چینجي) | مګر | دَ دهٔ دَ مرګ | (نو پته ورنهٔ کړه دوی ته | دَ مرګ | په دهٔ | حکم جاري کړو موږ

موږ په هغهٔ دَ مرګ حکم جاري کړو نو هغوئ ته بل چا نهٔ خو یو وینهٔ (چینجي) دَ مرګ پته ورکړه چه دَ

تَأْكُلُ مِنْسَأَتَهُ ۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَنْ لَوْ كَانُوا

وے دوی | که چرے | پیریانو ته | نو ښکاره شوه | دَ پریوتلو | بیا هر کله چه | امسا دَ دهٔ | چه خوړله ئې

هغهٔ امسا ئې خوړله ، نو څهٔ وخت چه هغه راپریوتلو نو پیریانو ته ښکاره شوه ، چه که چرے موږ دَ غیبو

يَعْلَمُونَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوا فِي الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿١٤﴾

دَ ذلت | په عذاب کښې | نو نهٔ به وُو دوی پراته | په غیبو | پوهه

په کارونو خبر وے ، نو په دے ذلیل عذاب کښے به (دومره موده) پراته نهٔ وے.

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ ۖ جَنَّتَانِ

دوه باغونه | یوه نخښه | دَ دوی په ځائے دَ اوسیدو کښے | (قوم دَ) سبا دَ پاره | وه | بیشکه

بیشکه دَ سبا دَ قوم دَ پاره دَ دوئ په آبادئ کښے (دَ الله تعالیٰ) نخښے وے چه دَ دِے ښي او ګس

عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ۬ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ۭ بَلْدَةٌ

له ښي طرف نه اوله ګس طرف نه | خورئ تاسو | له رزق نه | دَ رب خپل | او شکر کوئ | دَ ده | ښار دے

طرف نه دوه باغونه (ښوارۀ) وو (او اجازت ووچه) دَ خپل رب درکړے رزق خورئ او دَ هغهٔ شکر کوئ دا (ستاسو ښار) پاکیزه

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ۝۱۵ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

پاکیزه | او رب دے | بخښونکے | پس دوی مخ واړولو | نو راولیږلو مونږ | په دوی باندې

ښار دے او (ستاسو رب) بخښونکے رب دے. نو هغوئ زمونږ دَ حکم نه مخ واړولو نو مونږ په هغوئ باندې دَ زور

سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ

سیلاب | دَ زور | او په بدل کښے ورکړل مونږ دوی ته | په ځائے دَ دوئ باغونو دَ دوئ | دوه باغونه نور | چه دَ دے میوه وه

سیلاب راپریښودو او دَ دواړو اړخونو دَ (ګنړو ګورو) باغونو په بدل کښے مونږ ته داسے باغونه ورکړل چه

خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ۝۱۶ ذٰلِكَ

بے خونده | او اونے دَ غز | او څه | (اونے) دَ بیرے | لږ شان | دا

بے خونده میوے او غزونو او لږے غونډے دَ بیرو جاړے په کښے ولاړ وے دا مونږ ته

جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ۭ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ۝۱۷

سزا ورکړے وه مونږ دوی ته | په وجه دَ دوئ دَ ناشکرئ | او نه | ورکوو مونږ دغه سزا | مګر | ناشکرو ته

دَ ناشکرئ بدله ورکړه. او مونږ داسے سزا ګانے فقط ناشکرو خلقو له ورکوو،

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا قُرًى

او جوړکړی وو مونږ | په مینځ دَ دوی | او په مینځ دَ هغه کلو کښے | چه برکت اچولے وو مونږ | په هغے کښے | کلی

او مونږ دَ هغوئ دَ ملک او دَ هغو کلو تر مینځه چه برکتونه مو په کښے اچولی وو نور ډیر کلی آباد کړی وو چه څرګند

ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ۭ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ

چه ښکاره وو | او اندازے مقرر کړے مونږ | په هغے کښے | دَ تګ راتګ | روان اوسئ | په دے کښے | دَ شپے

پراته وو او په هغے کښے مو دَ تګ راتګ (سفر کښے) اندازے مقرر کړے وے، چه بے غمه او بے فکره ډ په کښے شپه

وَاَيَّامًا اٰمِنِيْنَ ۝۱۸ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا

او دَ ورځے | په امن سره | پس دوی ووئیل | اے زمونږ ربه! | لرے والے پیدا کړه | زمونږ دَ سفرونو په مینځ کښے

او ورځ تګ راتګ کوئ. نو هغوئ ووئیل چه اے زمونږه ربه! زمونږ دا سفرونه لرے او اوږدے کړه!

وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ

او دوی ظلم وکړو | په خپلو ځانونو | پس جوړکړل مونږ دوی | افسانے | او ټوټے ټوټے کړل مونږ دوی | په پوره ټوټے کولو سره

او په خپل ځان ئے زیاتے وکړو، نو مونږ ترے نه قیصئ جوړے کړے او ښوارۀ وارۀ مو کړل

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝۱۹ وَلَقَدْ صَدَّقَ

بیشکه | په دے کښے | نخښے دی | دَ پاره دَ هر صبر کوونکی | شکر کوونکی | او بیشکه | رښتیا بیا موندلو

په دے واقعه کښے هر صبر کوونکی او شکر کوونکی انسان دَ پاره (دَ عبرت) نخښے دی. او شیطان دَ هغوئ په حقله

عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾

په دوی باندې | شیطان | خپل گمان | پس دوی پیروي وکړه د ده | سیوا | د یوې ډلې | له مؤمنانو نه

خپل (د گمراهئ) گمان صحیح بیا موند و نو د ایمانداره ډیو ټولي نه بغیر نور ټول خلق د هغهٔ په لاره روان شول .

وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَٰنٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ

او نهٔ | وه | د ده | په دوی باندې | څهٔ غلبه | مگر | چه مونږ معلوم کړو | چه څوک یقین کوي

او د شیطان په هغوی باندې نور هیڅ وس نهٔ رسیدو ، مگر د دې (امتحان) د پاره چه مونږ هغه خلق کوم چه په

بِٱلْءَاخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِى شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ

په آخرت باندې | له هغه چانه | چه هغه | له دې نه | په شک کښې دی | او ستا رب

آخرت یقین لري د هغه خلقو نه (جدا) ښکاره کړو د څوک چه په دې کښې شک کوي ، او ستا رب د هر څیز

عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾ قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم

ع ۲/۱۲ ۸

په هر څیز باندې | نگهبان دے | ووایه | وبلئ | هغه کسان چه | تاسو ئې گمان کوئ

نگران دے . (اے پیغمبره!) تهٔ ورته ووایه چه تاسو د الله تعالیٰ نه بغیر په بل چا د خدائي گمان

مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۖ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا

سیوا د الله نه | چه مالکان نهٔ دي دوی | د وزن | د یوې ذرې | په آسمانونو کښې | او نهٔ

کوئ هغوئ ټول را وبلئ ، هغوئ خو په آسمانونو او زمکه کښې د ذرې برابر اختیار هم نهٔ

فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُۥ مِنْهُم

په زمکه کښې | او نشته دے د دوی | په دواړو کښې | څهٔ شرکت | او نشته دے | د الله | له دوی نه

لري ، او نهٔ د هغوئ په دے کښې څهٔ حصه شته ، او نهٔ په هغوئ کښې څوک د الله تعالیٰ سره

مِّن ظَهِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ ۚ

څوک مددگار | او فائده به نهٔ ورکوي | سفارش | الله سره | مگر | هغه چانه | چا د پاره چه ئې اجازت ورکړو

امداد کونکے شي . او د الله تعالیٰ په دربار کښې سفارش نه هیڅ فائده نهٔ ورکوي خو د چا په حقله چه هغه اجازت

حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا۟ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ۖ

تر دے چه | هر کله (هیبت) لرې کړے شي | د دوی د زړونو نه | (نو) وائي | چه څهٔ | وفرمائیل | ستاسو رب

ورکوي تر دے چه څهٔ وخت د هغوئ د زړونو نه هیبت کم شي نو د یو بل نه تپوس کوي چه ستاسو رب څهٔ حکم ورکړے دے؟

قَالُوا۟ ٱلْحَقَّ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم

دوی وائي | حقه (خبره) | او هم هغه دے | عالیشان | د ټولو نه لوئے | ووایه | څوک | روزي درکوي تاسو ته

هغوئ ورته وائي چه د حقې خبرے ، او هغه ډیر اوچت د ټولو نه لوئے دے . (اے پیغمبره!) تهٔ تپوس وکړه چه تاسو له د آسمان

مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ وَإِنَّآ أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلَىٰ هُدًى

له آسمانونو نه | او زمکے نه | ووایه | الله | او بیشکه مونږ | یا تاسو | په هدایت یو

او د زمکے (دواړو) نه څوک روزي درکوي؟ ورته ووایه چه الله (روزي درکوي) او بیشکه مونږ یا تاسو یا خو په سمه لاره روان یو

أَوْ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ قُل لَّا تُسْـَٔلُونَ عَمَّآ أَجْرَمْنَا

يا | په ګمراهئ | ښکاره کښې | ؤ وايه | تپوس به نه شي کيدى له تاسو نه | د دې په حقله | چه مونږ جرم وکړو

يا په ښکاره ګمراهئ کښې يُو ۔ ته ورته ووايه چه تاسو نه به زمونږ د جرمونو په حقله تپوس نه کيږي او نه

وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٥﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا

او نه به له مونږ نه تپوس کولے شي | د هغه څه | چه کوئ ئے تاسو | ؤ وايه | جمع به کړي | مونږ | زمونږ رب

به مونږ نه ستاسو د اعمالو (په باره کښې) تپوس کيږي. ته ورته ووايه چه زمونږ رب به مونږ را جمع کړي نو بيا به

ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ ﴿٢٦﴾ قُلْ

بيا به فيصله وکړي | زمونږ په مينځ کښې | په انصاف سره | او دے | لوئے فيصله کوونکے | پوهه دے ۔ | ؤ وايه

زمونږ تر مينځه سمه روغه فيصله وکړي او هغه په فيصله کولو کښې ډير ښه په هر څه پوهه دے ۔ ته ورته ووايه

أَرُونِيَ الَّذِينَ أَلْحَقْتُم بِهِۦ شُرَكَآءَ ۖ كَلَّا ۚ بَلْ هُوَ اللَّهُ

ؤ ښايئ ماته | هغه خلق چه | جوړ کړي دي تا څوئ | د هٔ سره | شريکان | هيڅکله نه | بلکه | هم دے دے | الله

چه لږ ماته خو هغه شريکان ؤ ښايئ چه تاسو د الله تعالى سره يو ځائے کړي دي نا هيڅ نه ۔ بلکه الله تعالى يوازے هغه دے

الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا

غالب | د حکمت خاوند | او نه يئ ته رالیږلے مونږ ته | مګر | ټولو انسانانو طرف ته | زيرے ورکوونکے

چه ډير زبردست او د حکمت خاوند دے. او (اے نبيه!) مونږ ته ټولو خلقو د پاره (د جنت) زيرے ورکوونکے او (د عذاب نه

وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ

او ويروونکے | او ليکن | اکثر | خلق | نه پوهيږي | او دوئ وائي چه | کله به (پوره کيږي)

ويروونکے جوړ کړے ليږلے يئ. خو اکثر خلق په دے خبره نه پوهيږي ۔ او دوئ وائي چه دا (د قيامت) وعده

هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ

دا | وعده | که چرے | يئ تاسو | رښتيا ويونکي | ووايه | تاسو د پاره | وعده د | د هغه ورځے

به کله پوره کيږي که چرے تاسو رښتيني يئ ؟ ته ورته ووايه چه تاسو سره د يوے ورځے وعده

لَّا تَسْتَـْٔخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالَ الَّذِينَ

چه تاسو به وروستو کيدے نه شئ | له هغه نه | يو ساعت | او نه به | تاسو وړاندے شئ | او وائي | کوم خلق چه

ده چه نه به ترے نه يو ساعت وروستو کيدے شئ او نه به ترے نه مخکښے کيدے شئ. او دا کافران

كَفَرُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا الْقُرْءَانِ وَلَا بِالَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ

کافران دي | چه مونږ به هيڅکله ايمان نه راوړو | په دے قرآن باندے | او نه | په هغه (کتاب) باندے | چه له دے نه وړاندے دے

وائي چه مونږ به هيڅکله په دے قرآن باندے ايمان رانه وړو او نه په هغه کتابونو چه د دے نه وړاندے راغلي دي

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ الظَّٰلِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ

او کاش! | ته ؤ وينے | هغه وخت چه ظالمان به | ؤدرولے شي | د خپل رب په وړاندے | اړوي به

او که ته هغه وخت وګورے څه وخت چه دا ظالمان به خپل رب ته مخامخ ؤدرولے شي ، په يو بل باندے به

بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ الْقَوْلَ ۚ يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا

يو له بل ته | په يل بانډى | خبره (الزام) | وائي به | هغه خلق چه | چه کمزوري ګڼلے شوي وو

الزامونه وړاړوي ، کمزوري خلق به غټانو خلقو ته دا وائي

لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ الَّذِينَ

هغوکسانو ته | چه کبرژن وو | که چرے تاسو نه وے | نو موږ به ضرور وو | ایمان والا | وُبه وائي | هغه خلق چه

چه که چرے تاسو موجود نه وے نو موږ به ضروري ایمان راوړے وو . نو غټان به

اسْتَكْبَرُوا لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا أَنَحْنُ صَدَدْنَاكُمْ عَنِ الْهُدَىٰ

کبرژن وو | هغه کسانو ته | چه کمزوري ګڼلے شوي وو | آیا موږ | منع کړي وئ تاسو | له هدایت نه

کمزورو ته جواب ورکړي ، چه آیا تاسو موږ د هدایت قبلولو نه منع کړي وئ

بَعْدَ إِذْ جَاءَكُم ۖ بَلْ كُنتُم مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا

پس له هغه نه | چه هغه راغے تاسو ته | بلکه | وئ تاسو | مجرمان | او وُبه وائي | هغه خلق | چه کمزوري وو

هغه وخت چه هدایت تاسو ته راغلے وو ؟ نا بلکه تاسو په خپله قصور کړے وو . او کمزوري خلق به د هغه

لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا بَلْ مَكْرُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ إِذْ تَأْمُرُونَنَا

هغه خلقو ته | چه کبرژن وو | (نه) بلکه | مکر | د شپے | او د ورځے | هر کله چه به | تاسو موږ ته حکم کولو

غټانو ته ووائي چه (داخو) ستاسو د صبا بیګا مکرونو موږ منع کړي وو چه تاسو به راته (هر

أَن نَّكْفُرَ بِاللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُ أَندَادًا ۚ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا

چه موږ انکار وکړو | د الله | او موږ مقرر کړو | د هغه د پاره | شریکان | او دوي به پټوي | پښیمانتیا | هر کله چه

وخت) ویناکوله چه موږ د الله نه انکار وکړو او هغه له د شریکان پیدا کړو ، او د غه خلق چه عذاب وُ وینی نو خپله

رَأَوُا الْعَذَابَ ۚ وَجَعَلْنَا الْأَغْلَالَ فِي أَعْنَاقِ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ هَلْ

دوي ووینی | عذاب | او وا به چوُو موږ | طوقونه | په څټونو کښے | د هغه کسانو | چه کافران دي | نه به

پښیماني به پټوي او موږ به د هغو خلقو په غاړو کښے طوقونه واچوو کوم چه کفر وکړو ، دوي ته به هم

يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ

بدله ورکولے شي دوئ ته | مګر | د هغه څه | چه دوي به کول | او نه دے لیږلے موږ | په یو کلي کښے | څوک ویروونکے

د هغو عملونو سزا ملاویږي کوم چه به دوئ کړي وي . او موږ چه هر چرے یو کلي ته څوک ویروونکے ورلیږلے دے

إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَا إِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ ﴿٣٤﴾

مګر | ووئیل به | خوشحاله خلقو د هغه کلي | بیشکه موږ | د هغه څه نه | چه رالیږلے شوئ یئ تاسو په هغے | منکر یو

نو د هغه ځائے مالدارو داوئیلي دي چه موږ خو ستاسو د راوړلو حکمونو نه انکاریان یو .

وَقَالُوا نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

او دوي ووئیل | چه موږ | زیات یو | په مال | او اولاد کښے | او موږ له به عذاب نه شي راکولے

او هغوئ داهم وئیلي دي چه موږ د مال او اولاد په لحاظ سره تاسو نه ډیر زیات یو او موږ له به هیڅ عذاب نه شي راکولے

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ

ووایه | بیشکه | زما رب | کشاده کوی | روزی | چا د پاره چه | وغواړی | او تنګوی

ته ورته ووایه چه زما رب د چا په حقله وغواړی نو روزی ورله فراخه کړی یا (روزی ورله) تنګه کړی

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ

او لیکن | اکثر | خلق | نه پوهیږی | او نه دی مالونه ستاسو | او | نه اولاد ستاسو

خو اکثر خلق (په دے خبره) نه پوهیږی. او ستاسو دا مالونه او ستاسو دا اولاد تاسو زمونږ

بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفَىٰ إِلَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

(داسے) چه هغه | تاسو نزدے کړی | مونږ ته | په قربت کښے | مګر | څوک چه | ایمان راوړی | او عمل ئے وکړو | نیک

په دربار کښے نزدے کولے نه شی، البته هغه خلق چه ایمان راوړی او هغوئ نیک عمل هم وکړی

فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ جَزَاءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ

پس دغه خلق دی | چه دوی د پاره | بدله ده | غبرګه | د هغه څه | چه دوی وکړو | او | دوی به

نو هغوئ ته به د خپل عمل دو چنده بدله ورکولے شی، او هغوئ به (د جنت)

فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِي آيَاتِنَا

په بالاخانو کښے | په امن وی | او کوم خلق چه | کوشش کوی | زمونږ (د) آیتونو (په معامله) کښے

په بالاخانو کښے په امن او امان سره وی. او هغه خلق چه زمونږ د آیتونو د ناکامه کولو کوشش

مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّي

زمونږ د عاجزه کولو | هم دا خلق به | په عذاب کښے | حاضر کړے شی | ووایه | بیشکه | زما رب

کوی نو دا ے خلق به عذاب ته ور مخامخ کړے شی. ووایه چه زما رب په خپلو

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ ۚ وَمَا

فراخه کوی | روزی | چا د پاره | چه ئے وغواړی | له خپلو بندګانو نه | او تنګوی | هغه د پاره | او څه چه

بندګانو کښے چه د چا د پاره وغواړی روزی فراخه کوی او چا د پاره چه وغواړی تنګوی ئے، او څه چه تاسو (د

أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٣٩﴾

تاسو خرچ کوئ | له څه څیز نه | نو دے | د هغه بدله ورکوی | او دے | د ټولو نه بهتر | رزق ورکوونکے دے

الله تعالیٰ په لاره کښے) خرچ کوئ نو هغه به د دے بدله درکوی او هغه ډیر بهتر روزی ورکوونکے دے.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَائِكَةِ أَهَٰؤُلَاءِ

او په کومه ورځ | چه ئے جمع کړی دوی | ټول | بیا به | وفرمائی | فرښتو ته | آیا هم دا دی

او په کومه ورځ چه الله تعالیٰ دوی ټول راجمع کړی نو فرښتو نه به پوښتنه وکړی چه آیا دے خلقو به

إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا سُبْحَانَكَ أَنْتَ وَلِيُّنَا

(چه) ستاسو | عبادت به کولو دوی | دوی به ووائی | ته پاک یئے | ته | زمونږ دوست یئے

ستاسو عبادت کولو ؟ هغوئ به ووائی چه (اے ربه!) ته پاک یئے زمونږ تعلق خو تا سره دے دوئ

مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ ۚ اَكْثَرُهُمْ

په ځلے د دوی | بلکه | دوی خو عبادت کولو | د پیریانو | اکثر له دوی نه

سره نه دے . واقعه داده چه دوی خو به د پیریانو عبادت کولو ، په دوی کښے اکثرو په

بِهِمْ مُّؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا

په دوی ایمان لرلو | پس نن | مالکان نه دی | څوک په تاسو کښے | بل د پاره | د څه نفع

دے (پیریانو) ایمان لرلو ، پس نن ورځ په تاسو کښے څوک یو بل ته د نفع یا نقصان رسولو اختیار

وَّلَا ضَرًّا ۭ وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ

او نه د نقصان | او موږ به ووایو | هغو خلقو ته | چه ظلم ئے وکړو | چه وڅکئ تاسو | عذاب | د دوزخ

نه لری او موږ به ظالمو ته ووایو چه د دے اور د عذاب مزه وڅکئ کوم

الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ

هغه چه تاسو به هغه | دروغ گڼړلو | او هرکله چه لوستلے شی | په دوی باندی | زموږ ایتونه | روښانه

چه په تاسو دروغ گڼړلو . او هرکله چه به د دوی په وړاندی زموږ واضحه ایتونه لوستلے شول

قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا

نو دوی وائی | چه نه دے دا (څوک) | مگر | یو سړے | چه غواړی | چه منع کړی تاسو | له هغه څه نه

نو دوی به وئیل چه دا (پیغمبر خو) یو داسے سړے دے چه تاسو د هغه بتانو نه منع کوی ، د کوم چه به

كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ۭ

چه عبادت به ئے کولو | پلارانو ستاسو | او دوی وائی | چه نه دے دا (قرآن) | مگر | دروغ | تړلے شوے

ستاسو پلار نیکه عبادت کولو او وائی دا (کلام) خو جوړ شوے دروغ دے .

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

او وائی | کوم چه | کافران دی | حق خبرے ته | هرکله چه | راغله دوی ته | نه دے دا | مگر

او څه وخت چه کافرانو ته حق راورسیدو نو دوی ووئیل چه دا خو یو ښکاره

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٣﴾ وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ اَرْسَلْنَآ

جادو | ښکاره | او نه دے ورکړے موږ دوی ته | څه کتاب | چه دوی لوستلے هغه | او نه دے لیږلے موږ

جادو دے . او موږ دوی ته داسے (آسمانی الهامی) کتابونه نه وو ورکړی چه کوم دوی به لوستل او موږ

اِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيْرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ

د دوی طرف ته | له تانه وړاندی | څوک ویروونکے | او دروغ گڼړلے وو | هغه خلقو چه | وړاندی له دوی نه وو

ستا نه وړاندی دوی ته هیڅوک ویروونکے لیږلے نه وو . او (د دے نه) د دوی نه مخکښو خلقو هم (پیغمبران) دروغژن گڼړل

وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۣ

او دا خلق نه دی رسیدلی | لسمے حصے ته | د هغه څه | چه ورکړی وو موږ دوی ته | پس دوی دروغ وگڼړل | زما پیغمبران

وو او موږ چه هغوی ته څه ورکړی وو نو دوی د هغے په لسمه برخه هم نه دی رسیدلی خو هغوی زما پیغمبران دروغژن وگڼړل

فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٤٥﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا

پس څنګه | شو | عذاب زما | ووایه | بېشکه | زه نصیحت کوم تاسو ته | صرف د یوې خبرې | چې تاسو ودرېږئ

نو زما د طرف نه پرې څنګه عذاب راغی. اے پیغمبره! ووایه چې زه مو په یوه خبره پوهوم هغه دا چې تاسو خالص

لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ

الله د پاره | دوه دوه | او یو یو | بیا | تاسو فکر وکړئ | چې نشته دے په دے ملګري ستاسو | څه لیونتوب

د الله د پاره ودرېږئ دوه دوه او یو یو بیا فکر وکړئ چې ستاسو دا ملګرے (پیغمبر یقیناً) لیونے نه دے، دے

اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ

نه دے دے | مګر | یو ویرونکے | تاسو د پاره | وړاندې | له عذاب | سخت نه | ته ووایه

خو تاسو د سخت عذاب د راتلو نه وړاندې ویرونکے دے. ته ورته ووایه

مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا

هغه څه | چې سوال مې کړے وو ما له تاسو | له اجرته | نو هغه | تاسو د پاره دے | نه دے | زما اجر | مګر

چې کوم ما له تاسو نه څه معاوضه غوښتې وی نو هغه ستاسو شوه. زما اجر خو بس د الله تعالیٰ په ذمه

عَلَى اللّٰهِ ۚ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ

په الله دے | او دے | په هر څیز باندې | ګواه دے | ووایه | بېشکه | زما رب

دے او هغه په هر څه باندې پوره پوره خبر دے. ته ورته ووایه چې زما رب همېشه

يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ

غلبه ورکوی | حق له | دے ډېر ښه پوهه د | په ټولو پټو خبرو | ووایه | چې راغے | حق

حق له غلبه ورکوی. د غیب په خبرو ډېر ښه پوهه دے. ورته ووایه چې اوس حق راورسېدو

وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ

او نه په اول ځل پیدا کوی | باطل معبود | او نه | په دوباره پیدا کوی | ووایه | که چرے بے لارے شم زه

او باطل نه پخوا څه څیز وو او نه اوس څه حیثیت لری. ته ورته ووایه چې که زه ګمراه یم نو د هغے

فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰي نَفْسِيْ ۚ وَاِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِيْٓ اِلَيَّ

نو بېشکه | چې بے لارے کیږم به زه | په خپل ځان | او که چرے | زه په هدایت باندې یم | نو څنګه چې | وحی کوی | زما طرفته

وبال به پرواڅے په ما راپریوزی — او که زه په سمه لاره روان یم نو دا د هغه وحی په وجه روان یم چې زما

رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ﴿٥٠﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا

زما رب | بېشکه دے | آورېدونکے | نزدے دے | او کاش | ته ووینے | هر کله چې | دوی ووېرېږی

رب زما طرفته رالیږلے ده هغه هر څه آوری ډېر نزدے دے. او که ته دا خلق هغه وخت ووینے چې دوی به وېرېدلی

فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٥١﴾ ۙ وَّقَالُوْٓا اٰمَنَّا

نو بچ به نه شی | او دوی به ونیولے شی | د نزدے ځائے نه | او دوی به ووائی | مونږ ایمان راوړے دے

ګرځی نو خلاصېدے به نه شی او د نزدے ځاۍ نه به راونیولے شی او دا به وائی چې (بس) مونږ په دے دین

بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۵۲﴾ وَّ

په دے | او چرته (ممکن ده) | دوی دپاره | حاصلول (د ایمان) | د دومره لرے ځائے نه | حال دا دے چه

پاند ایمان راوړو ، خو اوس د دومره لرے ځائے نه د دوی لاس چرته ور رسیدے شو ؟ حال دا دے

قَدْ كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ

دوی انکار کړے وو | د دے | له دے نه وړاندے (په دنیا کښے) | او دوی غورزول (خیالی غشی) | بے لیدو لو

چه دوی ترے نه مخوا راسے انکار کوو . او دوی د لرے نه بے لیدو لو خیالی غشی

مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾ وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ

د لرے ځائے نه | او رکاوټ به واچولے شی | د دوی په مینځ کښے | او په مینځ | د هغه څه کښے | چه دوی به غوښتل

ویشتل . او د دوی او د دوی د خواهشونو ترمینځه به یو دیوال ودرولے شی .

كَمَا فُعِلَ بِاَشْيَاعِهِمْ مِّنْ قَبْلُ ۗ اِنَّهُمْ كَانُوْا فِىْ شَكٍّ مُّرِيْبٍ ﴿۵۴﴾

لکه څنګه | چه شوی وو | د دوی غوندے خلقو سره | له دے نه وړاندے | بیشکه دوی | وو | په شک | قوی کښے

لکه څنګه چه د دے نه وړاندے د دوی غوندے خلقو سره شوے دی او هغوی هم د دوی په شان په بنکاره شک کښے پراته وو

سُوْرَةُ فَاطِرٍ مَّكِّيَّةٌ وَّهِىَ خَمْسٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة فاطر په مکه کښے نازل شوی او په دے کښے ۴۵ آیتونه او ۵ رکوع گانے دی | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

د الله تعالی په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے .

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ

ټول تعریفونه | الله لره دی | چه پیدا کوونکے | د آسمانونو | او زمکے دے | جوړوونکے | د فرښتو

ټول تعریفونه یوازے الله پاک له بنائی چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړل ، او فرښتے ئے خپل پیغام رسونکے

رُسُلًا اُولِىْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۗ يَزِيْدُ فِى الْخَلْقِ

پیغام رسونکے | د وزرو والا | دوه دوه | دریو دریو | او څلور څلورو | زیاتوی | په پیدا وښت کښے

جوړے کړے چه دوه دوه او درے درے او څلور څلور بازو گان ئے دی . هغه چه د چا په خلقت

مَا يَشَآءُ ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱﴾ مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ

څه چه ئے خوښه وی | بیشکه الله | په هر څیز باندے | قادر دے | څه چه پرانیزی | الله

وغواړی نو په پیدا وښت کښے ئے (د نورونه) زیات کړی بیشکه چه الله تعالی په هر څه قدرت لری ، الله تعالی چه د خلقو د پاره

لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ فَلَا مُرْسِلَ

خلقو د پاره | له رحمت نه | پس څوک بندوونکے نشته | د هغے | او څه چه ئے بند کړی | نو څوک لیږونکے نشته

(د) رحمت (دروازه) پرانیزی نو هغه هیڅوک بندولے نه شی او کوم څیز چه هغه بند کړی نو بیائے څوک

لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

د دے | پس له دے نه | او دے | غالب | د حکمت خاوند دے | اے خلقو !

جاری کولے نه شی ، او هغه غالب د حکمتونو خاوند دے . اے خلقو !

اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ
یاد کړئ | نعمت | دَ الله | په خپل ځان | آیا | څوک پیدا کوونکے شته دے | سیوا
په تاسو چه دَ الله تعالیٰ کوم احسانونه شوی دی هغه یاد ساتئ . آیا دَ الله تعالیٰ نه بغیر بل څوک خالق شته

اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ لَآ اِلٰهَ
دَ الله نه | چه روزی درکوی تاسو ته | له آسمان نه | او زمکے نه | څوک بل معبود نشته
چه تاسو ته دَ آسمان او دَ زمکے نه روزی دررسوی ؟ دَ هغهٔ نه سیوا بل

اِلَّا هُوَ ۖ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ③ وَ اِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ
سیوا دَ هغهٔ نه | نو کوم خوا | تاسو اړولی روان یئ | او که دوی تا دروغژن گڼړی | نو بیشکه دروغژن گڼړلے شوی دی
معبود نشته نو دا تاسو کوم طرف ته اړولی روان یئ ؟ او (اے نبی!) که دوی تا دروغژن وگڼړی نو تا نه

رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ④ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ
پیغمبران | له تا نه وړاندې (هم) | او الله طرف ته به | واپس کولی شی | ټول کارونه | اے خلقو!
وړاندې هم پیغمبران دروغژن گڼړلے شوی دی او آخر ټولے معاملے به الله تعالیٰ ته پیش کولے شی . اے خلقو!

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۖ
بیشکه | وعده | دَ الله | رښتینی ده | پس په دوکه کښے دے وانه چوی تاسو | ژوند | دَ دُنیا
دَ الله تعالیٰ وعده بالکل رښتینی ده ، نو دَ دُنیا (دالږ) ژوند مو خطا نهٔ کړی

وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ⑤ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ
او دوکه دے نهٔ کړی تاسو له | دَ الله په حقله | دوکه باز (شیطان) | بیشکه | شیطان | ستاسو | دښمن دے
او نهٔ دَ الله تعالیٰ په حقله دوکه باز (شیطان) تاسو له دوکه درکړی ، یقیناً شیطان ستاسو ښکاره دښمن دے

فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ
نو تاسو ئے دښمن وگڼړئ | دُښمن | بیشکه دے بلی | خپل ټولے | دَ پاره دَ دے چه شی دوی | اهل
نو تاسو ئے (همیشه) دُښمن گڼړئ ، هغه خو (بلکیا دے) خپل ټولے په دے غرض راغواړی چه په دوزخ کښے دے

السَّعِيْرِ ⑥ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَالَّذِيْنَ
دَ دوزخ | کوم خلقو چه | کفر وکړو | دوی دَ پاره دے | عذاب | سخت | او کوم خلقو چه
ستی کړی . هغه خلق کوم چه کفر اختیار کړو هغوی دَ پاره سخت عذاب (مقرر) دے او چا چه ایمان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ⑦ اَفَمَنْ ع ١ ١٣
ایمان راوړو | او عمل ئے وکړو نیک | هغوی دَ پاره ده | بخښنه | او اجر | ډیر لوئے | پس آیا هغه کس
راوړے دے او دَ نیکئ کارونه کوی ، هغوی دَ پاره بخښنه او ډیر غټ اجر (تیار) دے . آیا چا ته چه خپل

زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ فَرَاٰهُ حَسَنًا ؕ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ
چه ښائسته کړے شو دهٔ ته | خراب | عمل دَ دهٔ | پس دهٔ ولیدلو هغه | ښهٔ | نو بیشکه | الله | گمراه کوی | هغه څوک
بد عمل ښائسته ښکاره شو او هغه ئے دَ نیک عمل گمان وکړو (نو هغه دَ نیکانو برابر کیدلے شی ؟) الله چه دَ چا په حقله وغواړی

يَشَآءُ وَيَهْدِي مَن يَشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ

چه ډې وغواړي | او لارې ښائي | چا ته چه | ډې وغواړي | پس لاړه دې نه شي | ستا ځان | په دوی باندې

ئې ګمراه ئې کړي او چه د چا په حقله ئې وغواړي نو په سمه لار ئې روان کړي، پس ته په دوی باندې په افسوس کولو کښې

حَسَرَٰتٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ⑧ وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ

له افسوس نه | بيشكه | الله | پوهه دے | په هغه څه | چه دوی ئې کوی | او (هم) الله دے | هغه چه

ځان ورنه کړې. بيشكه الله تعالىٰ د دوی په کارونو باندې ښه خبر دے. الله تعالىٰ هغه ذات دے چه

أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ

ليږي | هوا ګانې | پس هغه اُوچتوی | وريځې | نو مونږ روانه کړو دا | طرف د ښار | مړه ته

باد ونه را اُولېږی، نو هغه وريځې راپرسېره کړی، نو مونږ ئې مړې (اوچې) مزکې ته ورولېږو

فَأَحْيَيْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ⑨ مَن

بيا مونږ ژوندۍ کړو | په دے سره | زمکه | پس د ځے د مړه کيدو نه | دغه شان دی | دوباره راژوندی کيدل | څوک چه

نو زمکه پرے د مرګ نه پس بيا راژوندۍ کړو، هم دغسے به (ستاسو) مړو دوباره ژوندون کيږی. څوک چه

كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ

غواړی | عزت | نو الله د پاره دے | عزت | ټول | طرف د ده ته | خيژی | خبرے

عزت لټوی نو ټول عزت يوازے الله تعالىٰ سره دے. ښه کلام الله تعالىٰ طرف ته بره خيژی.

ٱلطَّيِّبُ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ ۚ وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ

پاکيزه | او عمل | نيک | بره اُوچتوی دا | او کوم خلق چه | تدبيرونه کوی | بد

او ښه کارونه هغه کلام مخ په بره خيژوی او څوک چه ناکاره فريبونه جوړوی

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ أُو۟لَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ⑩ وَٱللَّهُ

دوی د پاره دے | عذاب | سخت | او تدبير | د دے خلقو به | برباد وی | او الله

هغوی له سخت عذاب مقرر دے او د دے خلقو ټول تدبيرونه به برباد شی. او الله تعالىٰ

خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ

پيدا کړی تاسو | له خاورے نه | بيا | له نطفے نه | بيائې | جوړے کړی تاسو | جوړے

هغه ذات دے کوم چه تاسو د خاورے نه، بيائې د نطفے نه پيدا کړی، بيائې جوړے جوړے کړی

وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ

او نه حامله کيږی | هيڅ ښځه | او نه زيږوی | مګر | د ده په علم | او نه بيا موندی عمر | څوک اوږد عمر والا

او هر کله چه د يوے ښځے حمل جوړيږی يا زيږدون کيږی نو هغه ته ښه معلوم وی او نه د چا عمر زياتيږی

وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ

او نه کمولے شی | له عمر د ده نه | مګر دا په کتاب کښے درج دی | بيشكه | دا (خبره) | الله د پاره

او نه د چا ژوند کميږی خو دا هر څه په لوح محفوظ کښے ليکلی پراته دی، دا ټول کارونه الله تعالىٰ ته

يَسِيْرٌ ﴿١١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرٰنِ ۖ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ

آسانه ده | او نه دي برابر | دوه دریابونه | دا (یو) | خوږ | تنده ماتوونکے | چه خوشګوار دی

ډیر آسان دی او دواړه (قسم) دریابونه برابرنه دی، یو (قسم) خوږ دے، تنده ماتوی. او څښل ئے خوشګوار

شَرَابُهٗ وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا

څښل ئے دے | او دا (بل) | مالګین | تریو دے | او له هر یو نه | تاسو خورئ | غوښه

دی. او (دویم قسم) مالګین او تریو دے او له هر یو نه تاسو تازه غوښه (ګبانو وغیره)

طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ

تازه | او راوباسئ تاسو | ګالی | چه تاسو اغوندئ هغه | او ته وینے | کشتئ | په دے کښے

خورئ او ګالی (موتی وغیره) راوباسئ چه تاسو ئے اغوندئ. او ته په کښے کشتئ (او جهازونه) وینے چه

مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢﴾ يُوْلِجُ

شلونکے د اوبو | د پاره د دے چه ولټوئ تاسو | (روزی) له فضل د ده نه | او چه تاسو | شکر وکړئ | ننباسی

د اوبو سینه شلوی او ورانئ ځی د دے د پاره چه تاسو هغه پیدا کړئ روزی (ځان د پاره) ولټوئ او دا ځکه چه تاسو هغه شکر وکړئ، هغه

الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۙ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ

شپه | په ورځ کښے | او ننباسی | ورځ | په شپه کښے | او په کار ئے لګولی دی | نمر

شپه په ورځ کښے او ورځ په شپه کښے ور ننباسی، او نمر او سپوږمئ ئے په کار

وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ

او سپوږمئ | هر یو | روان دے | یو وخت | مقرر پورے | هم دا دے الله | ستاسو رب

لګولی دی، هر یو په تر ټاکلے مقرر نیټے پورے روان دی، هم دغه الله دے چه ستاسو رب دے

لَهُ الْمُلْكُ ؕ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ

هم د ده ده | بادشاهی | او کوم چه | تاسو بلئ | بے له ده نه | دوی نه دی مالکان

بادشاهی هم د ده ده، او د هغه نه بغیر چه تاسو چا بلنه کوئ نو هغوئ د قجورے د هډوکی د پاسه پردو د

مِنْ قِطْمِيْرٍ ﴿١٣﴾ اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوْا

د قجورے د هډوکی د پوستکی | که چرے بلئ تاسو دوئ | (نو) دوئ نه آوری | بلنه ستاسو | او که چرے دوئ واوری هم

نری پوستکی قدر اختیار هم نه لری که تاسو ئے وبلئ نو هغوئ ستاسو بلنه هم نه آوری او (فرض کړه) که دوئ واوری

مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ؕ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ ؕ

نو دوئ جواب نه درکوی | تاسو ته | او په ورځ | د قیامت به | دوئ انکار وکړی | ستاسو د شرک نه

هم نو دوئ به تاسو ته جواب نه شی درکولے او د قیامت په ورځ به ستاسو د شرک نه انکار وکړی او د سم خبردار (خدائے)

وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ﴿١٤﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ

او تاته به خبر درنه کړی څوک | په شان | د باخبره (الله) | اے خلقو ! | تاسو | محتاج یئ

غونډی بل هیڅوک به درته سم خبر نه کړی. اے خلقو ! تاسو ټول د الله تعالیٰ محتاج

إِلَى اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ⑮ إِنْ يَّشَأْ يُذْهِبْكُمْ

دَ الله | او هم الله دے | بے حاجته | ستائیلے شوے | که چیرے ئے وغواړی | نو فنا به کړی تاسو

او الله تعالیٰ غنی او دَ خوبیانو خاوند دے . که هغه وغواړی نو تاسو به فنا کړی او یو بل

وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ⑯ وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ⑰

او رابه ولی | مخلوق | نوے | او نه دے | دا کار | په الله باندې | څه ګران

نوے مخلوق به را پیدا کړی . او دا کار الله تعالیٰ ته هیڅ ګران نه دے .

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى ۚ وَإِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلٰى حِمْلِهَا

او نه به اوچتوی | څوک اوچتونکے د بوج | بوج دَ بل چا | او که چرے | وُبلی | څوک بوج والا | طرف دَ بار خپل ته

او هیڅوک به دَ بل چا بار نه وړی . او که (فرض کړه) یو بار وړونکے دَ خپل بار دَ اوچتولو دَ پاره

لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۗ إِنَّمَا تُنْذِرُ

نو اوچت به نه کړے شی | له دغه بوج نه | هیڅ څیز | اګر که | وی | نږدے رشته دار | بیشکه | ته ویروے

څوک را وبلی نو یو پوټے وزن به ترے نه هم اوچت نه کړے شی اګر که (نږدے) خپلوان ئے وی اے نبی! ته خو بس دا

الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۗ وَمَنْ

هغه خلق چه | ویریږی | له رب خپل نه | بے لیدلو | او قائموی | مونځ | او څوک چه

خلق ویروے شے چه دَ خپل رب نه بے لیدلو ویریږی . او دَ مونځونو پابندی کوی او څوک چه

تَزَكّٰى فَإِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ ۚ وَإِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ⑱ وَمَا يَسْتَوِي

پاک شو | نو بیشکه | دے پاکیږی | دَ خپل ځان دَ پاره | او دَ الله طرف ته دی | واپس تلل | او نه دی برابر

پاک شو نو دَ خپل ځان دَ پاره پاک شو . او الله تعالیٰ ته دَ هر چا پستنه تګ دے او یو ړوند او بل

الْأَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ⑲ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ⑳ وَلَا الظِّلُّ

ړوند | او بینا | او نه تیارهٔ | او نه رڼا (برابر دی) | او نه سورے

دَ سترګو خاوند (دواړه) برابر کیدے نه شی، او نه تیارے او رڼا یو شان کیدے شی . او نه (یخ) سورے او

وَلَا الْحَرُوْرُ ㉑ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَآءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ ۗ إِنَّ اللّٰهَ

او نه ګرم باد | او نه دی برابر | ژوندی | او نه | مړی | بیشکه | الله

(تود) نمر یو شان کیدے شی او نه ژوندی او مړی برابر کیدے شی . الله تعالیٰ چه دَ چا په

يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَآ أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُوْرِ ㉒ إِنْ أَنْتَ

اَوروی | چا ته چه ئے وغواړی | او نه یئے ته | اَوروونکے | هغه چا ته چه | په قبرونو کښے دی | نه یئے ته

حقله وغواړی نو خبره ورته واوروی او ته په قبرونو کښے پرتو (مړو) ته خپل آواز اَورولے نه شے . ته خو بس

إِلَّا نَذِيْرٌ ㉓ إِنَّآ أَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۗ

مګر ویروونکے | بیشکه | مونږ را ولیږلے ته | په ربښتینی دین | زیرے ورکوونکے | او ویروونکے

یو ویروونکے یئے! مونږ ته دَ حق تعلیم سره زیرے ورکوونکے او ویرونکے رالیږلے یئے .

وَإِنْ مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ

او نهٔ دے هیڅ اُمّت | مګر | تیر شوے دے | په هغې کښې | ویروونکے | او که چرے | دوی دروغژن وګڼړی تا

او داسے یو اُمّت نشته چه په کښې (دَ الله دَ نافرمانئ نه) ویروونکے نهٔ وی راغلے او که چرے داخلق تا دروغژن

فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ

نو بیشکه | دروغژن ګڼړلی وو | هغه خلقو (هم) | چه له دوئ وړاندې وو | راغلل دوی ته | دَ دوئ پیغمبران | په واضحه نخښو سره

ګڼړی نو کوم خلق چه دَ دوئ نه وړاندې تیر شوی دی هغوئ هم دغه شان دروغژن ګڼړلی وو، هغوئ ته خپلو پیغمبرانو ښکاره

وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتَابِ الْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ كَفَرُوا

او په صحیفو سره | او په کتاب | روښانه سره | بیا | ما ونیول | هغه خلق | چه منکر شول

معجزے، صحیفے او روښانه کتابونه راوړی وو. بیا کوم خلقو چه انکار وکړو ما هغوئ راونیول نو (دَ ګوره)

فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً

پس څنګه وو | زما عذاب | آیا تا نهٔ دی لیدلی چه | الله | راورولے دی | له آسمان نه | اُوبهٔ

بیا زما عذاب څنګه شو. آیا تا دے ته نهٔ دی لیدلی چه الله تعالیٰ دَ برہ نه اوبهٔ راورولے.

ع ١٢ ١٥

فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ

بیا را وویستلے مونږ | په دے سره | میوے | (چه) مختلف وی | رنګونه دَ هغې | او له غرونو نه | حصے دی

بیا دَ هغې په ذریعه مونږ رنګ رنګ میوے راز رغونے کړے، او دغے په غرونو کښے هم رنګ رنګ غرونه دی

بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ

سپینے | او سرے | چه مختلف دی | رنګونه دَ هغې | او ځنې تک توردی | او له خلقو نه

ځنې سپین دی ځنې سرهٔ دی چه دَ هغې هم قسم قسم رنګونه دی او ځنې تک تور دی او دغه شان په بنیادمو

وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَلِكَ إِنَّمَا

او له ځناورو | او څاروو نه (هم) | چه مختلف دی | رنګونه دَ هغوئ | هم دغه شان | بیشکه

او په ځناورو او په څاروو کښے هم ځنې داسے دی چه رنګونه ئے ادل بدل دی. دَ الله تعالیٰ

يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾

ویریږی | دَ الله نه | دَ دهٔ له بندګانو نه | عالمان | بیشکه الله | غالب | ډیر بخښونکے دے

نه خو بس هغه بندګان ویره کوی چه پوهان دی. بیشکه چه الله تعالیٰ په هرڅه غالب، ډیر بخښونکے دے

إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا

بیشکه | کوم خلق چه | تلاوت کوی | دَ کتاب | دَ الله | او قائموی | مونځ | او خرڅ کوی

بیشکه څوک چه دَ الله تعالیٰ دَ کتاب تلاوت کوی او دَ مونځ پابندی ساتی او زمونږ ورکړی

مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَنْ تَبُورَ ﴿٢٩﴾

له هغه څهٔ نه | چه ورکړل مونږ دوئ ته | پټ | او ښکاره | دوی اُمید لری | دَ تجارت | چه هیڅ کله به برباد نهٔ شی

رزق نه په پټه او په ښکاره خیراتونه کوی هغوئ دَ داسے تجارت اُمید لری چه هیڅ کله به ئے تاوان نهٔ کوی

لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

چه الله پوره ورکړي دوی ته | اجرونه د دوی | او زیات ورکړي دوی ته | له خپل فضل نه | بیشکه هغه | بخښونکے | قدردان دے.

دا ځکه کوي چه الله تعالیٰ هغوی ته (د خپل عمل) پوره پوره اجرونه ورکړي او په خپل فضل نور زیات ورکړي هغه بخښونکے قدردان

وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا

او هغه څه چه | وحی مونږ وکړه | ستا طرف ته | له کتاب (قرآن) نه | هم دا حق | چه تصدیق کوونکے دے | د هغه څه

دے او مونږ چه تاته دا کتاب د وحی په ذریعه رالیږلے دے دا بالکل حق (کتاب) دے او له دے نه وړاندې چه کوم کتابونه نازل

بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِعِبَادِهِ لَخَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ أَوْرَثْنَا

چه وړاندې له ده نه دی | بیشکه الله | خپلو بندګانو نه | خبردار | بینا دے | بیا | مونږ وارثان جوړ کړل

شوی دی د هغې تصدیق کوی بیشکه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په حال ښه خبر دے هر څه وینې ګوری. بیا مونږ دا کتاب هغه بندګانو

الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ

د کتاب | هغه کوم چه | مونږ غوره کړل | له خپلو بندګانو نه | پس څوک له دوی نه | ظلم کوونکی دی

ته ورسولو چه مونږ په نورو بندګانو کښے غوره کړی وو ، نو اوس څوک خو په خپل ځان زیاتے

لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ

په خپل ځان | او څوک له دوی نه | میانه رو دی | او څوک له دوی نه | وړاندې والے کوونکی دی | په نیکیو کښے

کوی ، څوک په کښے میانه حال دی ، او څوک په کښے د الله تعالیٰ په فضل سره په نیکئ کښے

بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ

په حکم | د الله | هم دا دے | لوئے | فضل | باغونه | د همیشه پاتے کیدو

مخ په وړاندې روان دی ، هم دا ډیر لوئے فضل دے . (دوئ د پاره) باغونه دی د همیشه اوسیدو

يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ

دوی به داخلیږی دې ته | اغوستلے به شی دوی ته | په دے کښے | بازوګان | د سرو | او ملغلرے

چه دوئ به په کښے داخلیږی ، هلته به ورته د سرو زرو کنګن او ملغلرے واچولے شی ، او

وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ

او د دوی جامے به | په دې کښے | د ریښمو دی | او دوی به وائی | ټول تعریفونه | الله لره دی | هغه ذات چه | لرے کړو

هلته به د دوئ لباس د ریښمو وی ، او دا به وائی چه ټول تعریفونه الله تعالیٰ د پاره دی کوم چه له مونږ

عَنَّا الْحَزَنَ ۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِي أَحَلَّنَا

له مونږ نه | غم | بیشکه | زمونږ رب | ډیر بخښونکے | قدردان دے | هغه ذات چه | راتے وستلو مونږ

نه غم لرے کړو ، زمونږ رب یقیناً بخښونکے (او) قدردان دے. هغه ذات چه مونږئے په خپل

دَارَ الْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا

کور د همیشه پاتے کیدو ته | په خپل فضل سره | نه به رسیږی مونږ ته | په دې کښے | (څه) تکلیف | او نه به | رسیږی مونږ ته

فضل سره د همیشه اوسیدو ځائے ته ورسولو ، چه نه به په کښے راته څه تکلیف رارسی او نه به ترے نه

فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضَىٰ

په دې کښې | ستومانتيا | او کوم خلق چه | کفر وکړو | هغوی دپاره | اور | دَ دوزخ دے | نه به خو قضا راځي

چرے ستړیا کيږی. او څوک چه کافران شول هغوی له دَ دوزخ اور مقرر دے، نه به ورله اجل راځي

عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِنْ عَذَابِهَا ۚ كَذَٰلِكَ

په دوی باندې | چه دوی مړه شي | او نه به سپک کړے شي | له دوی نه | عذاب دَ هغې | دغه شان

چه مړه شي (او بچ شي) او نه به ترے نه دَ دوزخ عذاب کمولے شي، مونږ هر يو کافر له

نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ ﴿٣٦﴾ وَهُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا

مونږ سزا ورکوو | هر ناشکره ته | او دوی به | چغې وهي | په هغې کښې | چه اے زمونږ ربه! | اوباسه مونږ

هم دغسې سزا ورکوو. او دوی به په کښې دننه چغې وهي چه اے زمونږ ربه! مونږ دې اوباسه

نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ ۚ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا

چه مونږ عمل وکړو | نيک | بې | له هغې نه | چه مونږ به کولو | آيا مونږ عمرونه نه وو درکړي تاسو ته | چه

بهر اوباسه چه دَ نيکۍ کارونه وکړو دَ هغې نه خلاف چه پخوا به مو کول (الله به وفرمائي چه) آيا مونږ تاسو له دومره عمرونه وو

يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ فَذُوقُوا فَمَا

نصيحت مو حاصل کړے وے | په هغې کښې | څوک چه | نصيحت حاصلول غواړي | او درغلے وو تاسو ته | ويروونکے | پس وڅکئ (عذاب) | چه نشته

درکړي چه دَ پوهې طلبګار په کښې ځان پوهولے او آيا تاسو ته ويروونکے درغلے نه وو؟ نو اوس (دَ عذاب) خوند وڅکئ

لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ ﴿٣٧﴾ إِنَّ اللَّهَ عَالِمُ غَيْبِ السَّمَاوَاتِ ع ۱۶

دَ ظالمانو | څوک مددګار | بيشکه | الله | پوهيږی | په غيبو | دَ آسمانونو

دَ دالے ظالمانو دَ پاره څوک مددګار نشته. الله تعالىٰ ته دَ آسمانونو او دَ زمکے ټولے پټے خبرے

وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٣٨﴾ هُوَ الَّذِي

او دَ زمکے | بيشکه دے | ښه پوهيږی | په رازونو | دَ سينو | هم دے دے | هغه ذات چه

معلومے دی، بيشکه چه هغه ته دَ زړونو پټ رازونه هم معلوم دی. هغه دالے ذات دے

جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ ۚ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ

چه جوړے کړی تاسو | قائم مقام | په زمکه کښې | پس څوک چه | کفر وکړی | نو هم په هغه به وی | (وبال) دَ کفر دَ هغه

چه تاسو ئے په زمکه باندې آباد کړئ. نو چا چه کفر غوره کړو نو دَ کفر وبال به ورته په خپله ورسيږی

وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ

او نه زياتوی | کافرانو ته | کفر دَ دوی | په نزد دَ رب دَ دوی | مګر غضب | او نه زياتوی

او دَ کافرانو دَ پاره خپل کفر الله تعالىٰ سره دَ خفګان دَ زياتيدو باعث ګرځي، او کافرانو ته خپل

الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ شُرَكَاءَكُمُ

کافرانو دَ پاره | کفر دَ دوی | مګر نقصان | ووايه | آيا تاسو ليدلی دی | خپل شريکان

کفر نور څه نه خو دَ تاوان باعث ګرځي. (اے نبي!) ته وس وکړه چه آيا تاسو خپل هغه شريکان ليدلی دی

الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا

کوم چه | تاسو بلئ | سیوا | دَ الله نه | ؤښایئ ماته | چه څه څیز | دوی پیدا کړي دي

چه تاسو ئې بغیر دَ خدائې نه بلنه کوئ ، ماته وښایئ چه هغوئ په زمکه کښې څه

مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۚ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا

له زمکې نه | یا دوئ دَ پاره | (څه) شرکت دے | په آسمانونو کښې | یا | ورکړے دے مونږ دوی ته | کتاب

پیدا کړي دي ؟ یا په آسمانونو کښې دَ هغوئ څه شرکت دے یا مونږ هغوئ ته څه کتاب ورکړے دے

فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا

چه دوی | واضح دلیل لری | له هغې نه | بلکه | وعدهٔ نهٔ ورکوی | ظالمان | یو بل ته

چه هغوئ دَ هغې کتاب په دلیل ټینګ ولاړ دی؟ (نه) بلکه دا ظالمان یو بل سره دَ دروغو وعدے

اِلَّا غُرُوْرًا ﴿٤٠﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا ۚ

مګر دَ دوکے | بیشکه الله | راټینګ کړی دی | آسمانونه | او زمکه | چه دوئ وُ (نهٔ) خوزی

کوی . یقیناً الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه دواړه راټینګ کړی دی چه وُ نهٔ خوزی

وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا

او کهٔ دوئ وُ خوزی | نو نهٔ شی راټینګولے دوئ | هیڅوک | پس له دهٔ نه | بیشکه دے | دے | بردبار

او کهٔ دوئ دَ ځائې نه بې ځایه شی نو بیا دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل هیڅوک ئې راټینګولے نهٔ شی الله تعالیٰ ډیر حلیم

غَفُوْرًا ﴿٤١﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَهُمْ

بخښونکے | او دوئ قسمونه خوړل | په الله | ډیر کلک | قسمونه خپل | کهٔ چرے | راغے دوئ ته

بخښونکے دے . او دے کافرانو به په الله تعالیٰ باندې سخت قسمونه خوړل چه کهٔ څوک ویروونکے راته

نَذِيْرٌ لَّيَكُوْنُنَّ اَهْدٰى مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ

څوک ویروونکے (پیغمبر) | نو دوی به ضرور وُ | زیات لارې موندونکی | له هر یو | اُمّت نه | بیا هر کله چه | راغے دوی ته

راغے نو مونږ به دَ بل هر یو اُمّت نه زیات هدایت قبول کړو خو څهٔ وخت چه ورته ویروونکے

نَذِيْرٌ مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ﴿٤٢﴾ ۙ اسْتِكْبَارًا فِي الْاَرْضِ وَمَكْرَ

ویروونکے | (نو) زیات ئې نهٔ کړو دوی کښې | مګر | نفرت | په وجه دَ تکبر | په زمکه کښې | او تدبیر

راغے نو دے سره دَ دوئ نفرت نور زیات شو چه په دنیا کښې ئې خپل ځان غټ وګڼړلو او خراب خراب

السَّيِّئِ ؕ وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ

بد | او نهٔ پریوزی | تدبیر | بد | مګر | دَ دے په کوونکی | پس دوی انتظار نهٔ کوی

تربیونه ئې جوړ کړل او دَ خرابو چالونو وبال په خپله په چالبازو باندې پریوزی نو آیا دا خلق دَ پخوانو خلقو

اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۚ وَ

مګر | دَ دستور | دَ وړاندینو خلقو | پس هیڅ کله به بیا نهٔ مومے ته | دَ الله په دستور کښې | (څهٔ) تبدیلی | او

غونې دَ انجام انتظار کوی ـ نو ته به دَ الله تعالیٰ په دستور کښې څهٔ تبدیلی بیا نهٔ مومے ، او

لَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ﴿۴۳﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا

هیڅ کله به ته بیا نه موے | دَ الله په دستور کښے | (څخه) تغیر | آیا دوی نه دی گرځیدلی | په زمکه کښے | چه دوی وګوری

او دَ الله دستور به هیڅ کله او پرې وتلے بیا نه موے. آیا دوی دَ زمکے په مخ تګ راتګ نه کوی چه دا وګوری

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ

چه څنګه شو | انجام | دَ هغو خلقو | چه له دوی نه وړاندې وو | او هغوی وُو | ډیر زیات | له دوی نه

چه دَ پخوانو خلقو انجام څه شو؟ سره دَ دے چه هغوی دَ دوی نه زیات

قُوَّةً ۭ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ فِى السَّمٰوٰتِ وَلَا

په طاقت کښے | او نه | دے | الله (داسے) | چه عاجزه کړی ئے | څه څیز | په آسمانونو کښے | او نه

زور آور وُو. او الله تعالیٰ داسے نه دے چه هغه دِ څوک عاجزه کړے شی نه په آسمانونو کښے او نه

فِى الْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا قَدِيْرًا ﴿۴۴﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ

په زمکه کښے | بیشکه دے | دے | پوهه | قدرت والا | او که چرے | نیولے | الله | خلق

په زمکه کښے، هغه په هر څه پوهه او دَ قدرتونو خاوند دے. او که الله تعالیٰ دَ (خرابو) عملونو په سبب دَ خلقو

بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ

دَ دوی په عملونو | نو نه به ئے وو پرېښودے | په شا دَ زمکے | څه ساه دار څیز | لیکن | دے مهلت ورکوی دوی ته

نیول شروع کړی نو دَ زمکے په مخ به هیڅ گرځنده باقی پاتے نه شی خو الله تعالیٰ ورته تر یو مے نیټے پورے

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ﴿۴۵﴾ ع ۵

یو وخت مقرر پورے | بیا هر کله چه راشی | دَ دوی مقرر وخت | نو بیشکه الله | دے | په خپلو بندګانو | بینا

مهلت ورکوی. نو څه وخت چه هغه ټاکلے وخت راشی نو الله تعالیٰ دَ بندګانو عملونه وینی ګوری.

سُوْرَةُ يٰسٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سوره یٰسٓ په مکه کښے نازل شوا او | (شروع) دَ الله په نوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښے ۸۳ آیتونه او ۵ رکوعګانې

دَ الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

يٰسٓ ﴿۱﴾ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳﴾

یٰسٓ | قسم دے دَ قرآن | حکمت والا | بیشکه ته | له پیغمبرانو نه یئے.

یاسین. په قرآن باندې قسم دے چه دَ حکمتونو نه ډک دے، چه ته په پیغمبرانو کښے یو (پیغمبر) یئے.

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴﴾ تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿۵﴾

په لاره | سمه یئے. | نازل شوے | دَ غالب | مهربان.

(دَ هدایت) په نیغه لاره قائم یئے. (دا قرآن) دَ غالب او مهربان (خدائے) دَ طرف نه نازل شوے دے

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ

دَ پاره دَ دے چه ووېروې ته | هغه قوم | چه نه دی | ویرولی شوی | پلاران دَ دوی | پس دوی

چه ته ئے ووېروے هغه خلق (دَ عذابه) دوېروے چه دَ هغوی پلار نیکه چرے ویرولی شوی نه وُو نو ځکه بے خبره

غٰفِلُوْنَ ۝٦ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ

غافل دي | بېشكه | ثابته شوه | خبره (د الله) | په اکثرو د دوی

پاتې دي ، په دوی کښې په اکثرو خلقو باندې (د تقدير) وينا ثابته شوې ده ، نو

فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٧ اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ

پس دوی | ايمان نه راوړي | بېشکه مونږ اچولي دي | د دوی په څټونو کښې

اوس دوی ايمان نه راوړي . مونږ د دوی څټونو ته داسې طوقونه اچولي

اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ۝٨ وَجَعَلْنَا

طوقونه | بيا هغه | تر زنو پورې دي | پس دوی | سرونه پورته کړي دي | او مونږ جوړ کړه

دي چه تر زنو پورې ئې راختلي دي په دې وجه د دوی سرونه بره طرفته اوچت پاتې شوي دي. او مونږ يو

مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ

د دوی نه مخکښې | يو ديوال | او د دوی نه وروستو | يو ديوال | بيا پټ کړي دي مونږ دوی

ديوال خو د دوی مخې طرف ته ودرولې دے او بل ديوال د دوی د شا اړخ ته . بيا د بره نه مو پټ کړي

فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ۝٩ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ

پس دوی | نه وينې | او برابره ده | په دوی باندې | که ويروې ته دوی | يا

دي نو (ديوانې وروستو) هيڅ نه وينې . او د دوی په حقله دواړه خبرې برابرې دي که ته ئې وويروې او

لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٠ اِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ

نه | ويروې ته دوی | ايمان نه راوړي دوی | بېشکه | ته ويروې | هغه څوک | چه پيروي کوي

که ئې نه ويروې خو دوی ايمان نه راوړي . (اے نبي!) ته خو بس هغه څوک ويرولے شې چه په نصيحت

الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ

د نصيحت | او ويرېږي | د رحمن نه | بے ليدلو | پس زيرے ورکړه هغه ته | د بخښنې

پسې روانيږي او د رحم کونکي خدائے نه بے ليدلو ويره کوي ، نو داسې سړي ته د بخښنې او د ښه

وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ۝١١ اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ مَا

او د اجر | چه عزت والا دے | بېشکه مونږ ه | ژوندي کوو | مړي | او مونږ ليکو | هغه څه چه

اجر زيرے ورکړه . مونږ به يقيناً مړي بيا راژوندي کوو او هغه ټول کارونه ليکو کوم چه دوی د مخه

قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ۣ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ۝١٢

وړاندې ليږلي دي | او نخښې د قدمونو د دوی | او هر څيز | مونږ محفوظ کړے دے | په کتاب | ښکاره کښې

نه وړاندې ليږي او کوم چه وروستو پرېښودي او مونږ هر يو څيز په يو کتاب کښې محفوظ ساتلے دے .

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ اِذْ جَآءَهَا

او بيان کړه | دوی د پاره | يو مثال | د يو کلي د خلقو | هر کله چه | راغلل دغه کلي ته

او (اے پېغمبره!) دوی ته د يو کلي د خلقو قصه واوروه ! څه وخت چه هغه کلي ته پېغمبران

الْمُرْسَلُوْنَ ﴿١٣﴾ اِذْ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا

پيغمبران | هر کله چه | وليږل موږ | دَ دوی طرف ته | دوه سړي | نو دوی هغه دواړه دروغژن وګڼل

ورغلل ، ځکه وخت چه هغوی ته موږ دوه تنه ولیږل ، نو هغوی هغه دواړه دروغژن وګڼل

فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴿١٤﴾

نو قوت ورکړو موږ | په دريم سړي | نو دوی وويل | بېشکه موږ | ستاسو طرف ته | رالیږلے شوي يو

نو موږ دَ يو دريم تن په ذريعه دغه دواړه مضبوط کړل نو دے نبيانو وويل چه بېشکه موږ ستاسو طرف ته رالیږلے شوي يو

قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ

دوی وويل | نه يئ تاسو | مګر | بنيادم | په شان زموږ | او نه دے | رالیږلے | (الله) رحمن

هغه خلقو جواب ورکړو چه تاسو خو زموږ په شان بنيادم يئ ۔ او الله تعالیٰ هيڅ هم نه دی نازل

مِنْ شَیْءٍ ۙ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ﴿١٥﴾ قَالُوْا رَبُّنَا يَعْلَمُ

(څه) څيز | نه | يئ تاسو | مګر | دروغ وايئ | دوی وويل | زموږ رب | پوهه دے

کړی ۔ دا تاسو خو بس سروپ دروغ وايئ ۔ هغه نبيانو وويل چه زموږ رب ته معلومه ده

اِنَّآ اِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٧﴾

چه بېشکه موږ | ستاسو طرف ته | خامخا رالیږلے شوي يو | او نشته دے | په موږ | مګر | پيغام رسول | ښکاره ۔

چه موږ خاص هم تاسو ته رالیږلے شوي يو او زموږ ذمه واري نشته خو (تاسو ته) ښکاره حکم رسول دی ۔

قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَ

دوی وويل | بېشکه موږ | سپيره ګڼړو تاسو | که چرے | منع نه شوئ تاسو | نو موږ به ضرور تاسو سنګسار کړو | او

هغه خلقو وويل چه موږ خو تاسو سپيره ګڼړو که تاسو (دَ تبليغ نه) منع نه شوئ نو موږ به مو سنګسار کړو ، او

لَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوْا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ۚ

ضرور به ورسيږي تاسو ته | زموږ له طرفه | عذاب | دردناک | دوی وويل | ستاسو سپيره توب | تاسو سره دے

زموږ دَ طرف نه به درته ډير دردناک تکليف ورسيږي ۔ رسولانو وويل ستاسو سپيره توب په خپله په تاسو پورې

اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ

آيا که چرے | تاسو ته نصيحت وکړے شي | (نه) بلکه | تاسو يئ | خلق | له حده تيريدونکي | او راغے

نښتے دے آيا که تاسو ته نصيحت وکړے شي (نو دا نحوست دے ؟) نا ! بلکه تاسو دَ حد نه تيرشوي خلق يئ ، او دَ دغے ښار دَ

مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا

دَ بلے غاړے نه | دَ ښار | يو سړے | په منډه منډه | ده وويل | اے زما قومه ! | پيروي وکړئ

بلے غاړے نه يو سړے په منډه منډه راغے ورته ئے وويل چه اے زما قومه ! تاسو دَ دے

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٠﴾ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْـَٔلُكُمْ اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢١﴾

دَ پيغمبرانو | پيروي وکړئ | دَ هغه چا | چه نه غواړي له تاسو نه | څه اجر | او دوی | په سمه لاره روان دی

پيغمبرانو په لاره روان شئ ۔ دَ هغه چا په لاره چه تاسو نه هيڅ بدله نه غواړي او په سمه لاره قائم ولاړ دی

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ۲۲

او څۀ (عذر) څۀ ما دپاره | چه زۀ عبادت و نۀ کړم | د هغه چا چه | پیدا ئے کړم زۀ | او هم د ده طرف ته | به تاسو پسته ورځئ.

او څۀ وجه ده چه زۀ دې د هغه (مالک) عبادت و نۀ کړم چا چه زۀ پیدا کړم او تاسو ټول به هغۀ ته پسته ورځئ

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ

آیا زۀ و نیسم | بے له دۀ نه (نور) | معبودان | که چرے | اراده وکړی | رحمٰن | ماته د تکلیف راکولو | نو په کار به رانۀ شی

آیا زۀ خدائے پریږدم او ځان له داسے معبودان و نیسم چه که رحمٰن خدائے راته څۀ ضرر رارسول وغواړی نو د هغوی

عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ ۲۳ إِنِّيٓ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ۲۴

زما | د دوی سفارش | هیڅ هم | او نۀ به دوی ما خلاص کړی | بیشکه زۀ به د غه وخت | په ښکاره ګمراهئ کښے یم

سفارش م هیڅ په کار رانۀ شی او نۀ م (ترے نه) خلاصولے شی که زۀ داسے وکړم نو په ښکاره ګمراهئ کښے به پروت یم

إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ۲۵ قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ

بیشکه ما | ایمان راوړو | ستاسو په رب | پس تاسو زما خبره واورئ | حکم وشو | داخل شه | په جنت کښے | ده ووئیل

ما ستاسو په رب ایمان راوړے دے پس زما خبره واورئ. څۀ سړی ته وو ویلے شول چه جنت ته ورننوزه هغۀ ووئیل

يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ۲۶ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي

اے کاش ! | چه قوم زما | پوهه شی | په دے خبره چه | بخښنه وکړه | ماته | زما رب | او زۀ ئے کړمه

چه کاش! زما قوم ته دا خبره معلومه شوے ، چه زۀ خپل رب وبخښلم ، او په درنو خلقو کښے ئے

مِنَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ۲۷ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ

له عزتمندو نه | او رانۀ لیږلے موږ | د دۀ په قوم | پس له دۀ نه | څۀ لښکرے

شامل کړم . او موږ د هغۀ نه پس د هغۀ په قوم باندے د (عذاب پاره) آسمان نه څۀ لښکر رانۀ کوز کړے نۀ

مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ۲۸ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ

له آسمان نه | او نۀ وو موږ | رالیږونکی | نۀ وه (څۀ نور) | مګر | یوه چغه | پس ناګهانه دوی

وو او نۀ لښکر راکوزولو ته زموږ څۀ حاجت وو ، هغه (عذاب) خو بس یوه چغه قدر له وه نو ټول په هغۀ درنګ

خَٰمِدُونَ ۲۹ يَٰحَسۡرَةً عَلَى ٱلۡعِبَادِۚ مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ

پشا د مړ شوی او شول | افسوس دے | په بندګانو باندې | نۀ دے راغلے دوی ته | څوک رسول | مګر دوی وو

سا پۀ شول . هائے افسوس! د هغه بندګانو په حال ! چه کله هم ورته یو رسول ورغلے وو نو دوی

بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۳۰ أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ

چه هغۀ پورے | به ئے ټوقے کولے | آیا دوی نۀ دی کتلی | چه څومره هلاک کړل موږ | له دوی نه وړاندې | قومونه

ورپورے خندا ګانے کړے دے. آیا دوی ته دے خبره نۀ ګوری چه موږ د دوی نه وړاندے څومره امتونه داسے

أَنَّهُمۡ إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ۳۱ وَإِن كُلّٞ لَّمَّا جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ۳۲

چه هغوی به | د دوی طرف ته | (چرته هم) واپس نۀ راځی | او نۀ دی څۀ نور | مګر | ټول به | موږ ته | حاضر کړے شی

تباه کړل چه پسته به ورته رانۀ شی . او ټول به زموږ په وړاندے حاضر کړے شی .

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ۖۚ اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا

او نخښه ده | د پاره د دوی | زمکه | مړه | چه ژوندۍ کړله موږ دا | او را او ویستلو موږ | له دې نه | دانه

او دوی د پاره یوه نخښه مړه (اوچه) زمکه هم ده چه موږ هغه را ژوندۍ کړه او غلې مو ترې نه را او ویستلې ، نو دوی

فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ

پس له دغه دانه | دوی خوري | او جوړ کړل موږ | په دې کښې | باغونه | د کجورو | او د انګورو

د هغې نه خوراک نه کوي او موږ په دې کښې د کجورو او د انګورو باغونه جوړ کړل ، او

وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ﴿۳۴﴾ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ

او روانې کړلې موږ | په دې (باغونو) کښې | چینې | د پاره د دې چه دوی وخوري | د دې له میوو نه | او نه دی جوړ کړي دا

په دې کښې مو چینې جاري کړې . د دې د پاره چه دوی د دغې باغونو میوې وخوري او دا څیزونه

اَيْدِيْهِمْ ۭ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا

لاسونو د دوی | نو ایا دوی شکر نه کوي؟ | پاک دې | هغه ذات چه | پیدا کړلې | جوړې | ټولې

د دوی لاسونو نه دي جوړ کړي نو ایا دوی شکر ولې نه کوي؟ الله تعالی هغه ذات دی چا چه د دې ټولو څیزونو جوړې پیدا کړې

مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَاٰيَةٌ

له هغه څه نه | چه راټوکوي ئې | زمکه | او خپله د دوی له ځانونو نه | او له هغه څه نه | چه دوی ئې نه پیژني | او نخښه ده

هم د زمکې په زرعونو کښې ، هم په خپله په دوی کښې او هم په هغه څیزونو کښې چه دوی ته هیڅ معلوم نه دي . او د

لَّهُمُ الَّيْلُ ۖۚ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾

دوی د پاره | شپه | چه موږ را کاږو | له هغې نه | ورځ | پس ناګهانه دوی | په تیاره کښې شي .

دوی د پاره یوه نخښه شپه ده چه موږ ترې نه (رڼا) ورځ را کاږو نو دوی په تیاره کښې پاتې شي .

وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۭ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۳۸﴾

او | نمر | روان وي | په خپله مقرره لاره | دا | اندازه ده | د خدائے غالب | پوهه

او (یوه نخښه) نمر دې چه په خپله مقرره لاره روان دی ، دا د زبردست او پوهه خدائے ټاکلې اندازه ده .

وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ﴿۳۹﴾

او سپوږمۍ | مقرر کړل موږ د دې | منزلونه | تر دې چه | شي | په شان د کجورې د شاخ | زوړ

او موږ سپوږمۍ له منزلونه مقرر کړي دي تر دې چه د کجورې د زړې څانګې په شان وړه پاتې شي

لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ

نه خو نمر | مناسب دي | ده د پاره | چه را ونیسي | سپوږمۍ | او نه شپه | وړاندې کیدونکې ده

نه نمر له دا ممکنه ده چه هغه (وړاندې شي او) سپوږمۍ را ونیسي ، او نه شپه د ورځې نه مخکښې

النَّهَارِ ۭ وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا

له ورځې نه | او هر یو | په (خپله) دائره کښې | روان وي | او نخښه ده | د دوی د پاره | دا چه موږ | اوچت کړو

راتلې شي ، او هر یو په خپله خپله دائره کښې (لګیا دی) لامبو وهي . او د دوی د پاره یوه نخښه دا ده چه موږ د

ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ مَا

د دوی نسل | په کشتۍ کښې | ډکه کړې شوې | او پيدا کړل مونږ | دوی د پاره | په شان د هغې (کشتۍ) | هغه څه چه

دوی اولاد په ډکه کشتۍ کښې سواره کړو . او مونږ ورله د کشتۍ غوندې نور د سورلۍ سامان هم پيدا

يَرْكَبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ

سوريږي دوی په هغې | او که چرې | مونږ وغواړو | نو غرق به کړو مونږ دوی | بيا به نه څوک فرياد رس وي | د دوی د پاره | او نه به دوی

کړې دې . او که مونږ وغواړو نو دوی به ډوب کړو ، بيا به نه د دوی څوک فرياد اورېدونکی وي او نه به دې

يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٤٤﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ

خلاص کړې شي | مگر په رحمت | زمونږه | او فائده ده | ترخه موده پورې | او هر کله چه | ووئيلې شي | دوی ته

څوک خلاصولې شي ، خو دا چه زمونږ مهربانی وي او دوی ته تر يو مقرر وخت پورې فائده رسول وي . او کله چه دوی ته ووئيلې

اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٥﴾

چه ووېرېږئ | له هغه (عذاب) نه | چه ستاسو په وړاندې دې | او کوم چه ستاسو وروستو دې | د پاره د دې چه په تاسو | رحم وکړې شي .

شي چه د هغه عذاب نه ووېرېږئ چه ستاسو وړاندې هم دې او ستاسو وروستو هم دې چه رحم درباندې وشي (نو دوی هيڅ پروا نه کوي)

وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾

او نه راځي دوی ته | هيڅ نخښه | له نخښو | د رب د دوی نه | مگر دوی وو | له هغې نه | مخ گرځونکی .

او دوی ته د دوی د رب له طرف نه داسې نخښه نه ده راغلې چه دوی ترې نه مخ نه وي اړولې .

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

او هر کله چه | ووئيلې شي | دوی ته | چه خرڅ وکړئ تاسو | له هغه څه نه | چه رزق درکړی تاسو ته الله | (نو) وائي | کافران

او هر کله چه دوی ته ووئيلې شي چه د هغه رزق نه خرڅ کوئ چه الله ستاسو روزي کړې دې ، نو کافران مسلمانانو ته

لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا

هغه خلقو ته | چه ايمان ئې راوړې دې | آيا طعام ورکړو مونږ | هغه چا ته | چه که چرې غوښتلې الله | نو طعام به ئې ورکړې وو ده ته | نه يئ تاسو | مگر

داسې وائي چه آيا مونږ په هغه چا باندې وخوړو چه که د الله مرضي وې نو د روزۍ خاوند ئې کړی به وو؟ دا تاسو خو په

فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ

په گمراهۍ کښې | ښکاره | او دوی وائي | چه کله به (پوره کيږي) | دا وعده | که چرې يئ تاسو

ښکاره گمراهۍ کښې پراته يئ ، او دوی وائي چه (ښه اوو) دا وعده به (آخر) کله پوره کيږي که تاسو

صَادِقِينَ ﴿٤٨﴾ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ

رښتيا ويونکي | دوی انتظار نه کوي | مگر د يوې چغې | چه راونه به نيسي دوی | او دوی به

رښتيني يئ ؟ دا خلق خو بس د يوې درنې چغې په انتظار کښې (ناست) دي چه راونه به ئې نيسي او دوی به

يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾

جگړې کوونکي وي | بيا به دوی نه شي کولې | وصيت | او نه به خپل کوروالو طرف ته | واپس تلې شي

لا په خپلو جگړو کښې نښتي وي نو نه به د وصيت کولو فرصت بيا مومي نه شي او نه به د کور خلقو ته پسته ورسيدې شي .

٣ ع ١٨

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَإِذَا هُمْ مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿٥١﴾

او پوکے به وُهلے شی | په شپیلئ کښے | پس ناګهانه به دوی | له قبرونو نه | دَ خپل رب طرف ته | به منډه ورزغلی

او شپیلئ به پوک وهلے شی نو دوئ ـــ ټول به دَ قبرونو نه دَ خپل رب ـــ طرف ته په منډه روان شی

قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ

دوی به وائی | په هائے افسوس | چا | راپاڅولو مونږ | له قبرونو زمونږ نه | هم دا دے | چه | وعده کړے ده | رحمٰن

دا به وائی چه هائے زمونږ بد نصیبه ! دا مونږ چا دَ قبرونو نه راپاڅولو ؟ دا هم هغه قیامت دے دَ کوم وعده چه الله رحمٰن

وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٥٢﴾ إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيْعٌ

او رښتیا وئیلی دی | پیغمبرانو | نهٔ به وی دا (واقعه) | مګر | یوه درنه چغه | پس ناګهانه به دوی | ټول

کړے وه او رسولانو واقعی رښتیا وئیلی وو . پس یوه درنه چغه به وی ـــ ، او فورًا دوئ ټول به زمونږ په

لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا وَّلَا تُجْزَوْنَ

مونږ ته | حاضر کړے شوی وی | پس نن ورځ به | ظلم نهٔ کیږی | په هیڅوک | هیڅ هم | او بدل به نهٔ شی درکولے تاسو ته

وړاندې حاضر کړے شی . پس نن (دَ قیامت په) ورځ به په هیچا هیڅ ظلم نهٔ کیږی او تاسو ته به دَ هغو عملونو

إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٤﴾ إِنَّ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ﴿٥٥﴾

مګر دَ هغه څهٔ | چه تاسو به | کول | بیشکه | اهل دَ جنت به | نن ورځ | په مشغولو کښے | خوشحاله وی .

بدله ملاویږی چه تاسو به کول . یقینًا جنتیان به په دغه ورځ په خپلو مشغلو کښے مشغول وی ـــ .

هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِيْ ظِلٰلٍ عَلَى الْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿٥٦﴾ لَهُمْ فِيْهَا

دوئ | او دَ دوئ بیبیانے به | په سورو کښے | په تختونو باندې | تکیه لګولی ناست وی | دوئ دَ پاره به | په دے کښے

دوئ او دَ دوئ بیبیانے به دَ (ونو دَ) سورو لاندې په تختونو باندې تکیه لګولی ناست وی ، دوئ ته به میوے ورکولے

فَاكِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿٥٧﴾ سَلٰمٌ ۚ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿٥٨﴾

میوه وی | او دوی له به وی | هغه څهٔ چه دوئ غواړی | سلام | به فرمائیلے شی | دَ مهربان رب له طرف نه

شی او چه څهٔ غواړی هغه به بیا مومی ـــ ، دَ مهربان رب له طرف نه به پرے سلامونه وئیلے شی .

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٥٩﴾ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ

او جدا شئ | نن ورځ | اے مجرمانو ! | آیا ما حکم نهٔ وو درلیږلے | ستاسو طرف ته | اے اولاده دَ آدم

او (مجرمانو ته به وئیلے شی) اے مجرمانو ! تاسو (دَ دوئ نه) جدا شئ . اے دَ آدم اولاده ! آیا ما تاسو ته دَ دے خبرے وعده نهٔ وه

أَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ إِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٠﴾ وَّأَنِ

چه | تاسو عبادت مهٔ کوئ | دَ شیطان | بیشکه دے | ستاسو | دښمن دے | ښکاره | او دا چه

اخستے چه دَ شیطان عبادت مهٔ کوئ ـــ ؟ هغه ستاسو ښکاره دښمن دے . او دا چه (صرف)

اعْبُدُوْنِيْ ۚ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنْكُمْ

عبادت وکړئ زما | دا ده | لاره | سمه | او بیشکه | ګمراه کړے وو | له تاسو نه

زما عبادت کوئ ، هم دا سمه نیغه لاره ده . او هغهٔ په تاسو کښے ډیر خلق

جِبِلًّا كَثِيْرًا ؕ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِىْ

مخلوق | ډېر | نو آيا تاسو عقل نه لرئ ؟ | دا دے | (هغه) دوزخ | دَ كوم چه

گمراه كړل ، نو آيا تاسو نه پوهيدلئ ؛ دا هغه دوزخ دے چه تاسو سره به

كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۶۴﴾ اَلْيَوْمَ

تاسو سره وعده به شوے وه | داخل شئ دے ته | نن ورځ | په سبب دَ دے چه | تاسو به كفر كولو | نن ورځ به

ئے وعدے كيدلے ، دَ دے كفر او انكار په بدله كښې چه تاسو به كولو نن په دے كښې ورننوزئ ؛ نن به

نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ

مونږ مهر ولګوو | دَ دوی په خُلو باندې | او خبرے به وكړی مونږ سره | لاسونه دَ دوی | او ګواهی به وركړی | پښے دَ دوی

مونږ دَ دوئ په خلو باندې مهر ولګوو او دَ دوی لاسونه به مونږ سره خبرے كوی ، او دَ دوئ پښے به دَ

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ

په هغه څه | چه دوی به كول | او كه چرے | مونږ وغواړو | نو نابوده به كړو مونږ | سترګے دَ دوی

دوئ په عملونو ګواهی وركوی ، او كه چرے مونږ غوښتے نو دَ دوئ سترګے به مو په ټپو ړندے كړے وے

فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ﴿۶۶﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ

پس دوی به ورانډې كيږی | لارے طرف ته | پس له كوم ځائے به | دوی دَ ووينی | او كه چرے وغواړو مونږ | نو مسخ به كړو مونږ دوی

نو لارے طرف ته به ئے منډے وهلے خو هيڅ به ئے نه ليدل ، او كه مونږ غوښتے نو په دغه ځائے به مو دَ دوئ

عَلٰى مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ

دَ دوی په ځايونو | وس به ونه شی دَ دوی | دَ تيريدلو | او نه به دوی بيرته راوګرځی | او دَ چا چه | مونږ عمر اوږد كړو

شكلونه مسخ كړی وو نو بيا به نه وړاندې تلے شول او نه به ورستو راګرځيدے شول. او مونږ چه دَ چا عمر زيات

نُنَكِّسْهُ فِى الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ

بيا ئے ضعيف كړو | په مخلوق كښې | نو آيا دوی عقل نه لری | او نه دی | ښودلی مونږ دَ ده ته | شعرونه ويل

كړو نو (په طبعی طريقه سره) راټيټ ئے كړو ، نو آيا دوئ نه پوهيږی ؟ او مونږ دَ پيغمبر ته نه شاعری ښودلے ده او نه

وَمَا يَنْۢبَغِىْ لَهٗ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۶۹﴾ ۙ

او | نه دی مناسب | دَ ده دَ پاره | نه دے دا | مګر | نصيحت | او قرآن | ښكاره

دا دَ ده دَ شان سره مناسب ده ، دا كلام خو (يو زبردست) نصيحت او روښانه قرآن دے.

لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۰﴾

چه دے دوی ووېروی | هغه څوك | چه وی | ژوندے | او ثابته شی | خبره (حجت) | په كافرانو باندې

چه هغه كسان ووېروی چه (زړونه ئے) ژوندی دی او چه په كافرانو باندې حجت تمام شی.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا

آيا نه دی كتلی دوی | چه هم مونږ | جوړ كړل | له هغه څه نه | دوی دَ پاره | چه جوړ كړل | لاسونو زمونږ | څاروی

آيا دا خلق دے ته نه ګوری چه مونږ ورله په خپل لاس باندې دَ جوړو كړو څيزونو نه څاروی راپيدا كړل

فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ

پس دوی | د هغې | مالکان دی | او موږ تابع کړل دغه څاروي | د پاره د دوی | پس ځینې له دوی نه | د دوی سورلی ده

نو (ټن) دوی د هغې مالکان شول . او (بیا) موږ دغه څاروي د دوی د حکم تابع کړل نو په ځینو باندې سورلي کوي

وَمِنْهَا يَأْكُلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ

او ځینې له دوی نه | دوی خوري | او دوی د پاره | په دې کښې | فائدې دي | او | د څښلو څیزونه

او ځینو نه خوراک کوي . او په دغه څاروو کښې ورله نورې ډېرې فائدې او د څښلو څیزونه دي

اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٧٤﴾

آیا دوی شکر نه کوي | او دوی نیولي دي | بې د الله نه | معبودان | چه دوی ته | مدد ورکړې شي.

نو آیا دوی بیا هم شکر نه کوي . او دوی د الله تعالیٰ نه بغیر ځانله نور معبودان په دې اُمید جوړکړي دي چه ګوندې ورله مدد به ورسي د ګړ

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ ۙ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿٧٥﴾

نه | به شي کولې دوی | د دوی مدد | او دوی دي | دوی د پاره | لښکر | حاضر کړې شوې

شي . دغه معبودان د دوی هیڅ امداد نه شي کولې (بلکه) دغه څیزونه خو به د دوی کافرانو په مقابله کښې د فریق په شان راپیش کړې

فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٦﴾

نو غمژن دې نه کړي تا | د دوی خبره | بېشکه موږ پوهېږو | په هغه څه | چه دوی ئې پټوي | او په هغه څه | چه دوی ئې ښکاره کوي

شي نو ته د دوی په خبرو خفګان مه کوه موږ ته هر څه معلوم دي کوم چه دوی په زړونو کښې پټ ساتي او کوم چه خلقو ته ښکاره کوي

اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ

آیا نه دی کتلي | انسان | چه موږ پیدا کړو دے | له قطرې نه | پس ناګهانه دے (شو) | جګړه کوونکے

آیا انسان دې ته نه ګوري چه موږ دے د یو څاڅکي نه راپیدا کړو ، بیا دے په ښکاره (د خپل رب په باره کښې)

مُّبِيْنٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ ؕ قَالَ مَنْ يُّحْيِ

ښکاره | او ده بیان کړو | موږ د پاره | یو مثال | او هېر ئې کړو | خپل پیدائښت | ده وویل | څوک به | ژوندي کړي

جګړې کوي ، او دے زموږ په باره کښې مثالونه بیانوي او خپل حقیقت ئې هېر کړو ، وائي چه څوک به هډوکي

الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ

هډوکي | هر کله چه هغه | زاړه شوي وي | ووایه | ژوندي به کړي هغه | هغه ذات چه | پیدا ئې کړل هغه

راژوندي کړي هر کله چه هغه به زاړه شوي وي (اې نبي!) ته جواب ورکړه چه هغه ذات به ئې راژوندي کوي چا چه

اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ ﴿٧٩﴾ ۙ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمْ

په اول ځل | او دے په هر قسم | پیدا او ښت | ښه پوهه دے | هغه ذات چه | پیدا ئې کړو | تاسو د پاره

په اول ځل راپیدا کړي دي او هغه په هر قسم پیدا او ښت ښه پوهه دے . هغه داسې ذات دے چه تاسو له ئې د

مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ﴿٨٠﴾

له اونې | شنې نه | اور | پس ناګهانه | تاسو | له هغې نه | اور بلوئ

شنو اُونو نه اور راپیدا کړې دے ، نو بیا د هغې نه تاسو نور اور ونه بلوئ .

اَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ

آیا نهٔ دے | هغه ذات چه | پیدا ئے کړل | آسمانونه | او زمکه | قادر | په دے چه

آیا هغه الله تعالیٰ چا چه آسمانونه او زمکه پیدا کړل په دے خبرے قادر نهٔ دے چه هغه به د دوی

يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ؕ بَلٰى ۗ وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨١﴾ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ

پیدا کړی | په شان د دوی | ولے نه | هم دٰے هر څهٔ پیدا کوونکے | پوهه دے | د دهٔ حکم خو دا دے | هر کله چه

غونډې نور (خلق) دا پیدا کړی ؟ ولے نه ! هم هغه خو پیدا کوونکے او پوهه دے ، د هغه شان دا دے چه څهٔ وخت

اَرَادَ شَيْئًا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٨٢﴾ فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ

د اراده وکړی | د څهٔ څیز | نو دے فرمائی | هغه څیز ته | چه شه | پس هغه شی | پس پاک دے | هغه ذات چه

هغه د څهٔ څیز اراده وکړی نو ورته وائی چه شه نو هغه شی ــــ . پس پاک دے هغه الله تعالیٰ

بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾

په لاس کښے د دهٔ | بادشاهی ده | د هر | څیز | او طرف د دهٔ ته | به تاسو واپس کړے شئ

چه د چا په لاس کښے د هر یو څیز پوره پوره اختیار دے او تاسو ټول به هغهٔ ته پسته ورځئ .

سُوْرَةُ الصّٰفّٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِثْنَانِ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سوره صٰفّٰت په مکه کښے نازل شوے او په | (شروع) د الله په نوم چه لوئے مهربان دیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ۱۸۲ آیتونه او ۵ رکوع گانے دی

د الله په نامهٔ شروع کوم چه لوئے مهربان د دیر زیات رحم خاوند دے

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ﴿١﴾ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ﴿٢﴾ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ اِنَّ

قسم دے په صف تړونکو فرښتو باندې | پس قسم دے په هغه ټولی چه شړونکی دی په شړلو سره | بیا تلاوت کوونکو | د قرآن | بیشکه

قسم دے په هغه ټولګو چه په صفونو کښے په قطارونو ولاړ وی او په هغه کسانو چه (شیطانان) په کلکه رټی او په هغه کسانو چه د قرآن تلاوت کوی . بیشکه

اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿٤﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ

ستاسو معبود | یو دے | چه رب دے | د آسمانونو | او د زمکے | او هغه څهٔ چه | د دوی په مینځ کښے دی | او رب دے

ستاسو معبود یو دے . هغه د آسمانونو او د زمکے او د دے تر مینځهٔ د ټولو څیزونو رب دے او د نمر ختلو

الْمَشَارِقِ ﴿٥﴾ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ۨالْكَوَاكِبِ ﴿٦﴾

د مشرقونو | بیشکه | مونږ ښائست ورکړو | آسمان | د دُنیا ته | په ښائست | د ستورو سره .

د ځایونو رب دے . دا مونږ یو چه د دُنیا آسمان مو په یو عجیبه رونق یعنی په ستورو ښائسته کړے دے .

وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ﴿٧﴾ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى

او بچ مو ساتلو | له هر شیطان | سرکش نه | غوږ نهٔ شی اینولے | طرف د فرښتو | اعلیٰ ته

او د هر یو سرکش شیطان نه مو د هغے حفاظت کړے دے . (شیطانان) (د فرښتو د) مجلس اعلیٰ هیڅ خبره نهٔ شی

وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ﴿٨﴾ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ

او دوی ویشتلے شی | له هر | طرف نه | د تښتولو د پاره | او دوی د پاره | عذاب دے

اوریدلے او له هر طرف نه د دوی د تښتولو د پاره په دوی باندې (ستورے) غورزولے شی او د دوی د پاره دائمی

وَّاصِبٌ ﴿٩﴾ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿١٠﴾

همیشه | مگر هغه څوک | چه راوتښتوی | یو راتښتول | نو ورپسې شي ده پسې | شعله | سوزونکې

عذاب دے ۔ البته که چا پټکې چرته یو نیم خبر وتښتولو نو یوه ګرمه ځلنده شعله ورپسې وروانه شي ۔

فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ

پس تپوس وکړه له دوی نه | آیا دوی | پیدا کول ډیر سخت دی | یا دا هغه چا | چه پیدا کړل مونږ | بیشکه مونږ پیدا کړل دوی

نو دوی نه تپوس وکړه چه دوی خلقو پیدا کول سخت دی یا دا هغه تورو خیزونو کوم چه مونږ پیدا کړی دی، مونږ دا خلق د یوے

مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَاِذَا ذُكِّرُوْا

له خټې | مښتینې نه | بلکه | تعجب وکړو تا | او دوی تو ټوکې کوی | او هر کله چه | دوی ته نصیحت کوے شی

ښلیښناکې خټې نه راپیدا کړی دی بلکه ته خو (د دوی په انکار) تعجب کوے او دوی (په تا پورې) خندا مسخرے کوی او هر کله چه دوی

لَا يَذْكُرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ هٰذَآ

(نو) دوی نصیحت نه قبلوی | او هر کله چه | دوی وینی | څه نخښه | نو دوی ئې په خندا واخلی | او وائی | نه دی | دا (څه نور)

پوهولے شی نو دوی نه پوهیږی ۔ او هر کله چه دوی یوه معجزه وینی نو په هغے پورے مسخرے کوی ۔ او دا وائی چه دا خو

اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿١٦﴾

مګر | جادو | ښکاره | آیا هر کله چه مونږ مړه شو | او خاورے شو | او هډوکی | آیا مونږ به | دوباره راپاڅولے شو؟

ښکاره جادو دے ۔ آیا هر کله چه مونږ مړه شو او خاورے او هډوکی شو نو لا بیا به راژوندی کیږو ؟

اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ دَاخِرُوْنَ ﴿١٨﴾ فَاِنَّمَا هِيَ

آیا زمونږ پلاران | پخوانی (هم) | ووایه | هو (ضرور) | او تاسو به | ذلیل یئ | پس هغه خو به وی

او آیا زمونږ پلار نیکه به هم لا راژوندی کیږی ؟ ته ووایه هو! او تاسو به ذلیل او خوار یئ ۔ قیامت به بس هیله

زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ

یوه چغه | پس ناګهانه به دوی | ګوری | او دوی به وائی | هائے زمونږ بدبختی! | هم دا دے | ورځ

یوه چغه وی ۔ نو دوی تول به لیدل کتل شروع کړی ۔ او دا به ووائی چه هائے زمونږ بد نصیبه ! دا خو د قیامت

الدِّيْنِ ﴿٢٠﴾ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٢١﴾ اُحْشُرُوا

د جزا | هم دا دے | ورځ | د فیصلے | کومه چه به | تاسو دروغ ګڼړله | راجمع کړئ

ورځ (په رښتیا) راغله ، دا هم هغه د فیصلے ورځ ده چه تاسو به دروغ ګڼړله ، ټول ظالمان خلق

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ﴿٢٢﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

کوم چه | ظلم وکړو | او د دوی ملګری | او د کوم | چه دوی عبادت کولو | د الله نه سیوا

او د هغوی ملګری او ورسره د هغوی معبودان راجمع کړئ چه د الله نه بغیر به ئے دوی عبادت کولو

فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ ﴿٢٤﴾

پس تاسو وبیایئ دوی ته | لارے ته | د دوزخ | او را ایسار کړئ دوی | بیشکه دوی | به تپوس کولے شی

او بیا دوی د دوزخ په لاره روان کړئ ۔ او دوی را ایسار کړئ دوی نه به یوه پوښتنه کیږی ۔

ع ٢١ ٥ الربع

مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿۲۶﴾

څه وشو په تاسو | چه ډېربل سره مدد نه کوئ | بلکه | دوئ | نن ورځ | فرمانبردار دي۔

چه دا اوس څه چل دے چه تاسو يو بل امداد نه کوئ بلکه دوئ ټول به په دغه ورځ (د شرم نه) سرونه ټيټ ولاړ وي۔

وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ قَالُوْٓا اِنَّكُمْ

او راوګرځيږي به شي | ځينې له دوي نه په ځنو باندې | چه له يو بل نه به تپوس کوي | دوی به وائي | بيشکه تاسو

او يو بل ته به وګوري او تپوسونه به شروع کړي ۔ مريدان به ورته ووائي چه تاسو به په موږ

كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿۲۸﴾ قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۹﴾

راتلئ موږ ته | له ښي طرف نه | دوی به وائي | بلکه | نه وئ تاسو | مؤمنان

باندې د ښئ چپے نه ډېر په زور سره راتلئ۔ مشران به ورته جواب ورکوي چه نا بلکه تاسو خو به په خپله ايمان نه راوړو۔

وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ﴿۳۰﴾

او نه وو | زموږ | په تاسو باندې | څه زور | بلکه | وئ تاسو | خلق له حد نه تيريدونکي

او زموږ خو په تاسو څه زور نه وو ، خو تاسو به په خپله سرکشي کوله ۔

فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ ق اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا

پس ثابته شوه | په موږ باندې | خبره | زموږ د رب | بيشکه موږ | څکونکي يو | پس موږ بے لارے کړئ تاسو | بيشکه موږ

نو اوس په موږ ټولو باندې د خپل رب خبره ثابته شوه او س موږ ضرور (د عذاب) مزه څکو بيشکه چه موږ تاسو ګمراه کړئ (ځکه موږ

كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿۳۲﴾ فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾

وو | بے لارے | پس بيشکه دوی به | په دغه ورځ | په عذاب کښے | شريک دي

په خپله هم ګمراه وو ، نو دا ټول به په دغه ورځ په عذاب کښے شريک وي ۔

اِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿۳۴﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا قِيْلَ

بيشکه موږ | هم دغه شان | کوؤ | د مجرمانو سره | بيشکه دوی | وو (دا سے) | چه هرکله به | وويلے شو

موږ دا سے مجرمانو سره هم دغه شان کوؤ دوی دا سے خلق وو چه ورته به وويلے شو چه د

لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۙ يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا لَتَارِكُوْٓا

دوی ته | چه نشته د بل څوک معبود | سيوا د الله نه | نو دوی به تکبر کولو | او دوی به ويل | چه آيا موږ پريږدو

الله نه بغير بل معبود نشته ، نو دوئ به تکبر کولو ۔ او دا به ئے ويل چه آيا موږ د يو ليونی

اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿۳۶﴾ بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ

خپل معبودان | د (په وينا د) يو شاعر | ديوانه | بلکه | دے راوړے دے | حق (دين) | او ده تصديق وکړو

شاعر په وينا خپل معبودان پريږدو ؟ نا ! بلکه دے پيغمبر رښتينے دين راوړے دے او د ټولو پيغمبرانو

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿۳۸﴾ ۚ وَمَا تُجْزَوْنَ

د پيغمبرانو | بيشکه تاسو | څکونکي يئ | د عذاب | دردناک | او بدله به نه شي درکولے

تصديق کوي ۔ تاسو ټول به د دردناک عذاب خوند څکئ ۔ او تاسو ته به نور څه نه

إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٣٩ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ۝٤٠

مګر | دَ هغه څهٔ | چه تاسو به کول | مګر | بندګان دَ الله | خالص کړی شوی

خو بس تش دَ خپل عمل بدله به درکولے شی ، مګر دَ الله تعالیٰ مخلص بندګان به دَ عذاب نه خلاص وی

أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ۝٤١ فَوَٰكِهُ ۖ وَهُم مُّكْرَمُونَ ۝٤٢

هم داخلق دی | چه دوی دپاره | رزق دے | معلوم | میوے | او دوی به | عزتمند وی ـ

هغوئ له دا سے خوراکونه مقرر دی چه دَ هغے حال معلوم دے، قسم قسم میوګانی او هغوی به ډیر په درناوی ناست وی -

فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝٤٣ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ۝٤٤ يُطَافُ عَلَيْهِم

په باغونو کښے | دَ نعمت | په تختونو باندے (به وی) | یو بل ته مخامخ | ګرځولے به شی | په دوی باندے

دَ آرام په باغونو کښے ، په تختونو به یو بل ته مخامخ ناست وی ـ دَ بهیدونکو شرابو ډک جامونه

بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍۭ ۝٤٥ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ۝٤٦ لَا فِيهَا

یو جام | له جاری شرابونه | سپین | خوند ورکوونکی | څښونکو ته | نهٔ به په دے کښے

به پرے ګرځولے شی ، تک سپین چه دَ څښونکو دپاره به ډیر خوندناک وی ، نهٔ به پرے سر

غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ۝٤٧ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ

درد دَ سروی | او نهٔ به دوی | له دے نه | نشه شی | او دوی سره (به ښځے وی) | ښکته ساتونکی

ګرځوی او نهٔ به ورله په عقل کښے فتور راولی ـ او ورسره به دَ حیا نه ښکته کتونکے دَ غټو غټو

ٱلطَّرْفِ عِينٌ ۝٤٨ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ۝٤٩ فَأَقْبَلَ

دَ نظر | غټو سترګو والا | لکه چه دوی | اګئی دی | په پرده کښے پټے کړے شوے | پس را مخامخ به شی

سترګو والا ښځے وی ـ لکه چه اګئی په پرده کښے سنبالے پټے پرتے وی ـ نو بیا هغوئ به

بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ۝٥٠ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ

ځنے له دوی نه | په ځنو باندے | (او) په خپل مینځ کښے به پوښتنے کوی | وُبه وائی | یو ویونکے | له دوی نه

یو بل ته مخامخ شی او پوښتنه به کوی ـ یو تن به په کښے ووائی چه زما یو

إِنِّى كَانَ لِى قَرِينٌ ۝٥١ يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُصَدِّقِينَ ۝٥٢ أَءِذَا

بیشکه وو زما | یو ملګرے | هغهٔ به ویل | چه آیا ته یے | له تصدیق کوونکو نه؟ | آیا هر کله چه

ملاقاتی وو ، هغه به ماته ویل چه آیا ته (هم) دَ قیامت تصدیق کوے ؟ آیا مونږ

مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ۝٥٣ قَالَ هَلْ

مونږ مړهٔ شو | او شو مونږ | خاورے | او هډوکی | (نو) آیا مونږ ته به | بدله راکولے شی | ارشاد به وُشی | آیا

چه مړهٔ شو او خاورے او هډوکی شو نو آیا مونږ ته به جزا یا سزا راکولے شی؟ ورته به ووئیلے شی چه

أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ۝٥٤ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِى سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ۝٥٥ قَالَ

تاسو | کتل غواړئ؟ | پس دے به وګوری | نو ویه وینی دے | په مینځ | دَ دوزخ کښے | دے به ووائی

تاسو (په هغهٔ پسے) ښکته کتل غواړئ ؟ نو هغه به وګوری او خپل ملګرے به دَ دوزخ په مینځ کښے پروت بیا موی ـ دے به ووائی

تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ

قسم په الله | نزدے وې ته دے نه | چه زه به دِ هلاک کړے وم | او که چرته نه وے | فضل | زما د رب | نو زه به ضرور وم

چه قسم دے په الله! تا خو زه تباه کولم ۔ او که په ما د خپل رب فضل شوے نه وے، نو زه به هم (لکه

مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿٥٨﴾ اِلَّا مَوْتَتَنَا

له حاضر کړے شوو (مجرمانو) نه | پس آیا نه یو | مونږ | مړه کیدونکی | مګر | مړه کیدل زمونږ

ستا) راښیولے شوے وم ۔ آیا (دا یقینی نه ده چه) مونږ به بیا نه مرو؟ سیوا (د دُنیا) د وړومبی

الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٥٩﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ

د وړومبی ځل | او نه یو مونږ | عذاب راکړے شوو نه | بیشکه | هم دا ده | کامیابی

مرګ نه او نه به چرے راته عذاب راکولے شی؟ بیشکه دا ډیره لویه کامیابی

الْعَظِيْمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴿٦١﴾ اَذٰلِكَ خَيْرٌ

ډیره لویه | د دا سے (کامیابی) د پاره | پکار دی چه عمل وکړی | عمل کوونکی | آیا دا ده | بهتره

ده ۔ هم د دا سے کامیابی د پاره عمل کوونکو له عمل کول پکار دی آیا دا میلمستیا غوره

نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿٦٢﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٣﴾

میلمستیا | یا | اُونه | د زقوم | بیشکه مونږ جوړ کړې دا | یو آزمیښت | د ظالمانو د پاره

ده او که د زقوم اُونه؟ مونږ دغه اُونه د ظالمانو د پاره یوه فتنه د عذاب جوړه کړے ده

اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ

بیشکه دا | یوه اُونه ده | چه راوځی | په مینځ | د دوزخ کښے | چه غوټکه د هغے | لکه چه هغه | سرونه دی

دغه یوه داسے اُونه ده چه د دوزخ په ویخ کښے راټوکیږی ۔ د هغے غوټکه داسے ده لکه د ښامارانو

الشَّيٰطِيْنِ ﴿٦٥﴾ فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا

د ښامارانو | پس بیشکه دوی به | خامخا خوری | له هغے نه | بیا ډکے به کړی دوی | له هغے نه

سرونه ـ نو دوی به د هغے نه خوراک کوی او هم د هغے نه به خیټے

الْبُطُوْنَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٦٧﴾

خیټے | بیا به | بیشکه دوی د پاره | د دے د پاسه | ګډوډ (د نوښو) دی | له ایشیدلو اوبو نه

ډکوی، بیا به ورته د دے د پاسه ایشیدلے خړوبوړے اوبه ورکولے شی ۔

ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ﴿٦٨﴾ اِنَّهُمْ اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ

بیا | بیشکه | بیرته ګرځیدل د دوی به | طرف د دوزخ ته دی | بیشکه دوی | موندلی وو | خپل پلارنیکه

بیا به دوی له د دوزخ طرف ته واپس ګرځیدل وی ۔ بیشکه دوی خپل مشران ګمراه

ضَآلِّيْنَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ

بے لارے | پس دوی (هم) | د هغوی د قدمونو په نښان | په منډه روان وو | او بیشکه بے لارے شوی وو | وړاندے له دوی نه

موندلی وو ـ نو دوی هم ورپسے قدم په قدم په منډه روان وو ـ او د دوی نه وړاندے هم اکثر مخکنی

أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَانظُرْ

ډیر | پخوانی خلق | او بیشکه | موږ لیږلي وو | په هغوئ کښې (هم) | ویروُنکي | پس وګوره چه

خلق ګمراه شوی وُو . او موږ په هغوئ کښې هم ویرُوُنکي لیږلي وُو ، نو ته وګوره چه

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾

څنګه | شو | انجام | دَ ویرولی شوو | سیوا | دَ بندګانو | دَ الله | خالص کړے شوو نه

دَ هغه ویرولی شو خلقو انجام څهٔ شو ؟ سیوا دَ الله تعالیٰ دَ خاصو بندګانو نه .

وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ

او بیشکه | آواز وکړو موږ ته | نوح | پس (موږ) څهٔ ښهٔ | جواب ورکوونکي یو | او خلاصے ورکړه موږ دهٔ ته | او دَ دهٔ کور والا ته

او نوح موږ ته آواز وکړو نو موږ ډیر ښهٔ فریاد رس یو . او موږ هغه هم او دَ هغهٔ دَ کور خلق هم

مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا

له مصیبت | ډیر لوئے نه | او کړو موږ | اولاد دَ دهٔ | هم دوی باقي پاتے کیدونکي دي | او پریښودو له موږ

دَ ډیر درونډ غم نه خلاص کړل . او صرف هم دَ هغهٔ اولاده باقي پاتے پریښودو . او په وروستو راتلونکو

عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ

په دهٔ (ثنا نیکه) | په وروستو راتلونکو خلقو کښې | سلام دے دی | په نوح باندې | په ټولو جهانونو کښې | بیشکه موږ | هم دغه شان

خلقو کښې مو داخبره دَ هغهٔ دَپاره پاتے پریښوده چه په ټول مخلوق کښے دے په هغهٔ سلام وي لے شي . موږ نیکانو له هم

نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا

جزا ورکوو | نیکانو خلقو ته | بیشکه دے | زمونږ له مؤمنانو بندګانو نه دے | بیا | غرق کړل موږ

دغسے بدله ورکوو . هغه زمونږ یو ایماندار بنده وو . بیا موږ نور خلق (یعنی کافران)

الْآخَرِينَ ﴿٨٢﴾ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذْ جَاءَ رَبَّهُ

نور خلق | او بیشکه | دَ دهٔ دَ طریقے په خلقو کښې | ابراهیم هم وو | هرکله چه دے راغے | خپل رب ته

ډوب کړل . او دَ هغهٔ دَ طریقے په خلقو کښے ابراهیم (هم) وو چه خپل رب ته په صفا زړهٔ

بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾

په زړهٔ | صفا سره | هرکله چه دهٔ ووئیل | خپل پلار ته | او خپل قوم ته | دَ څهٔ څیز | عبادت کوئ تاسو ؟

زړهٔ متوجه شو . څهٔ وخت چه هغهٔ خپل پلار ته او خپل قوم ته ووئیل چه تاسو دَ څهٔ څیز عبادت کوئ؟

أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٧﴾

آیا دَ دروغو | معبودان | سیوا | دَ الله نه | تاسو غواړئ | پس څهٔ خیال دے ستاسو | په رب دَ ټولو جهانونو

آیا دَ الله تعالیٰ نه بغیر ګمان له د دروغو معبودان لټوئ نو دَ رب العالمین په حقله ستاسو څهٔ خیال دے؟

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ

بیا دهٔ وکتل یو نظر | ستورو ته | بیا ئے ووئیل | بیشکه زهٔ | بیمار یم | پس دوی واپس شول | له دهٔ نه

بیا (ابراهیم) دَ ستورو طرف ته وکتل . او دائے ووئیل چه زهٔ ناجوړه یم . غرض دا چه هغوئ ترے نه لاړل

ع ۲ ۵۲ ٦

وقف لازم

مُدْبِرِيْنَ ۝٩٠ فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ۝٩١ مَا لَكُمْ

شا کرځو نکی | پس په پټه ورغی دے | د دوی معبودانو ته | پس وے وئیل | آیا تاسو خوری نه ؟ | څه وشول په تا

روان شول ۔ ابراهیمؑ د هغوی معبودانو ته ورغے نو ورته ئے ووئیل چه آیا تاسو خوراک څښاک نه کوئ ؟ دا څه درپاندې

لَا تَنْطِقُوْنَ ۝٩٢ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًۢا بِالْيَمِيْنِ ۝٩٣ فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ

چه تاسو خبرے نه کوئ | پس متوجه شو دے | په دوی باندې | په وهلو | په ښي لاس سره | پس راغلل مخ شول دی | ده ته

وشو ، تاسو خبرې هم نه کوئ ؟ بیا په ښي لاس یعنې پوره قوت سره ئے د دوی ماتول شروع کړل ۔ نو هغه خلق ورله په منډه

يَزِفُّوْنَ ۝٩٤ قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا تَنْحِتُوْنَ ۝٩٥ وَ اللّٰهُ

په منډه | ده ووئیل | آیا تاسو عبادت کوئ | د هغه څه چه | تاسو ئے په خپله تراشئ | او | الله

(پسته) راغلل ۔ ابراهیمؑ ورته ووئیل چه تاسو د هغه بتانو عبادت کوئ چه په خپلو لاسو ئے تراشئ ۔ حال دا چه تاسو هم

خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ ۝٩٦ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ

پیدا کړی تاسو | او څه چه | تاسو جوړوئ | دوی ووئیل | جوړ کړئ | ده د پاره | یو مکان | پس واچوئ دے

او ستاسو جوړ کړی ټول څیزونه هم صرف الله پیدا کړی دی ، هغوی ووئیل چه ده له یو اور تیار کړئ نو دے په شور انګار

فِى الْجَحِيْمِ ۝٩٧ فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ۝٩٨

په ډیر اور کښې | پس اراده ئے وکړه دوی | د ده خلاف | د فریب کولو | پس مونږ کړل دوی | ښکته

کښې ورګوزار کړئ ۔ غرض دا چه هغوی د ابراهیمؑ خلاف سازش وکړو نو مونږ هغوی ښکته ګوزار کړل ۔ او

وَقَالَ اِنِّىْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّىْ سَيَهْدِيْنِ ۝٩٩ رَبِّ هَبْ لِىْ

او ده ووئیل | بیشکه زه | تلونکے یم | خپل رب طرف ته | او س به ئے ما ته لاره وښائی | اے زما ربه ! | راکړه | ما ته

ابراهیمؑ ووئیل چه زه خپل رب طرف ته روان یم هغه به ما ته سمه لاره وښائی ۔ اے زما ربه ! ما له یو نیک ځوئے

مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝١٠٠ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ۝١٠١ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ

(ځوئے) له صالحانو نه | پس مونږ زیرے ورکړو ده ته | د یو هلک | بُردبار | بیا هر کله چه | دے ورسیدو | د ده سره

راکړه ! نو مونږ ده ته د یو صابره هلک زیرے ورکړو ۔ نو بیا څه وخت چه هغه د خپل پلار

السَّعْىَ قَالَ يٰبُنَىَّ اِنِّىْٓ اَرٰى فِى الْمَنَامِ اَنِّىْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ

د منډے (عمر ته) | ده ووئیل | اے زما ځویه ! | بیشکه زه | وینم | په خوب کښې | چه زه ذبح کوم تا | پس وګوره

سره د کرخیدو عمر ته ورسیدو نو ابراهیمؑ ورته ووئیل چه اے ځویه ! په خوب کښې څه ګورم چه تا حلالوم نو ته هم غور وکړه (او

مَاذَا تَرٰى ؕ قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ؗ سَتَجِدُنِىْٓ

ستا څه رائے ده ؟ | ده ووئیل | اے زما پلاره ! | وکړه | څه چه | تا ته حکم شوے دے | ته به ومومې ما

ما ته ووایه) چه ستا څه رائے ده ؟ ځوئے ورته ووئیل چه بابا ! تا ته چه څه حکم شوے دے هغه په ځائے کړه ۔ ان شاء الله

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ۝١٠٢ فَلَمَّآ اَسْلَمَا وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ۝١٠٣

که چیرے الله وغواړی | له صبر کوونکو نه | بیا هر کله چه | دواړو (حکم) ومنلو | او واچولو دے | په طرف د تندی

ما به صابره بیا مومے ۔ بیا چه دے دواړو د الله حکم ومنلو او پلار ځوئے په طرف د مخ څملولو

وَ نَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰۤاِبْرٰهِيْمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا

او آواز وکړو موږ دهٔ ته | چه | اے ابراهیمؑ ! | بیشکه تا رښتیا کړو | خوب | بیشکه موږ

او موږ ورته آواز وکړو چه اے ابراهیمؑ ! تا خوب واقعي رښتيا کړو ، بیشکه موږ

كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٠٥﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴿١٠٦﴾

دغه شان | بدله ورکوو | نیکانو ته | بیشکه | هم دا دے | آزمیښت | ښکاره -

نیکانو بندګانو ته هم دغه شان بدله ورکوو . واقعي دا یو ډیر لوئے آزمیښت وو -

وَ فَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴿١٠٧﴾ وَ تَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٠٨﴾

او موږ بدل ګرځوو دهٔ ته | یو حلاله لویه | او پریښود له موږ | په دهٔ (ثنا ښکه) | په وروستو راتلونکو خلقو کښے

او موږ دهٔ په بدله کښے دهٔ ته یوه لویه قربانی ورکړه . او په راتلونکو خلقو کښے مو داخبره د دهٔ په نامه باقي پریښوده

سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿١٠٩﴾ كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١١٠﴾ اِنَّهٗ

(چه) سلام دے وی | په ابراهیمؑ باندې | دغه شان | موږ جزا ورکوو | نیکانو ته | بیشکه دے وو

چه په ابراهیمؑ دې سلام وی . موږ نیکانو بندګانو ته هم دغه شان بدله ورکوو بیشکه هغه

مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١١﴾ وَ بَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا

زموږ له ایماندارو بندګانو نه | او موږ زیرے ورکړو دهٔ ته | د اسحاق | چه نبي به وی

زموږ له مؤمنانو بندګانو نه وو او موږ (ابراهیمؑ) ته د اسحاق زیرے ورکړو چه نبي او

مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١١٢﴾ وَ بٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَ عَلٰٓى اِسْحٰقَ ؕ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا

له صالحانو خلقو نه | او برکت ورکړو موږ | دهٔ ته | او اسحاق ته | او د دے دواړو له اولاد نه

نیک بخت به وی . او موږ ابراهیمؑ او اسحاقؑ د برکتونو خاوندان کړل ، او د دے دواړو په اولاد کښے

مُحْسِنٌ وَّ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿١١٣﴾ وَ لَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى

(څوک) نیکوکار دی | او (څوک) ظالمان دی | په خپلو ځانونو باندې | ښکاره | او بیشکه | موږ احسان کړے وو | په موسیٰؑ

نیکان خلق هم شته او په خپلو ځانونو باندې ښکاره ظلم کوونکي هم دی . او موږ په موسیٰؑ او په هارونؑ هم

وَ هٰرُوْنَ ﴿١١٤﴾ وَ نَجَّيْنٰهُمَا وَ قَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿١١٥﴾

او (په) هارون | او نجات ورکړو موږ دے دواړو ته | او د دوی قوم ته | له مصیبت | ډیر لوئے نه

احسان وکړو . او دوی دواړه مو سره د خپل قومه د لوئے مصیبت نه خلاص کړل -

وَ نَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿١١٦﴾ وَ اٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ

او موږ مدد وکړو د دوی | پس وو | دوی | غالب | او ورکړو موږ دے دواړو ته | یو کتاب

او موږ د دوی امداد وکړو نو دوی (په فرعونیانو) غلبه بیاموندله . او موږ دے دواړو له روښانه

الْمُسْتَبِيْنَ ﴿١١٧﴾ وَ هَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١١٨﴾ وَ تَرَكْنَا

واضحه | او وښودله موږ دے دواړو ته | لاره | سمه | او باقي پریښوده موږ

کتاب ورکړو او موږ دے دواړو ته سمه لاره وښودله او موږ دے دواړو پاره

عَلَيۡهِمَا فِى الۡاٰخِرِيۡنَ ۞ ١١٩ سَلٰمٌ عَلٰى مُوۡسٰى وَهٰرُوۡنَ ۞ ١٢٠ اِنَّا

په دے دواړو | په وروستنو خلقو کښے | سلام دے وی | په موسیٰؑ | او هارونؑ | بیشکه مونږ

په وروستو راتلونکو خلقو کښے دا (ذکرِ خیر) باقی وُساتلو، چه په موسیٰؑ او هارونؑ دِ سلام وی ۔ بیشکه مونږ

كَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۞ ١٢١ اِنَّهُمَا مِنۡ عِبَادِنَا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۞ ١٢٢

دغه شان | بدله ورکوُو | نیکی کوونکو ته | بیشکه دوی دواړه وُو | زمونږ له ایماندارو بندګانو نه

دغه شان نیکانو خلقو ته بدله ورکوُو ، دوی دواړه زمونږ ایماندارہ بندګان وو ۔

وَاِنَّ اِلۡيَاسَ لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞ ١٢٣ اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖۤ اَلَا تَتَّقُوۡنَ ۞ ١٢٤

او بیشکه | الیاس | له رسولانو نه وو | هرکله چه ده وویل | خپل قوم ته | آیا تاسو ویریږئ نه!

او الیاسؑ هم په پیغمبرانو کښے شامل دے ۔ څهٔ وخت چه هغهٔ خپل قوم ته وویل چه آیا تاسو د الله نه نه ویریږئ؟

اَتَدۡعُوۡنَ بَعۡلًا وَّتَذَرُوۡنَ اَحۡسَنَ الۡخَالِقِيۡنَ ۞ ١٢٥ اللّٰهَ رَبَّكُمۡ

آیا بلئ تاسو | بعل (بت) | او تاسو پریږدئ | د ټولو نه ښهٔ | خالق | الله | چه رب دے ستاسو

آیا تاسو د بعل عبادت کوئ او خالق مو پریښودے دے چه ډیر ښکلے مخلوق ئے پیدا کړے دے ، یعنی الله چه ستاسو رب

وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الۡاَوَّلِيۡنَ ۞ ١٢٦ فَكَذَّبُوۡهُ فَاِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُوۡنَ ۞ ١٢٧

او رب دے | د پلارانو پخوانو ستاسو | پس دوی دروغژن وګڼلو دے | نو بیشکه دوی به | ضرور حاضر کړے شی

دے او ستاسو د پلار، نیکهٔ هم رب دے ۔ هغوی الیاسؑ دروغژن وګڼلو نو ټول به راوو نیولے شی ۔

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ۞ ١٢٨ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ

مګر | کوم چه بندګان دی | د الله | خالص کړی شوی | او پریښودلو مونږ | په دهٔ باندې (ذکرِ نیکی)

سیوا د هغه خلقو نه چه د الله تعالیٰ خاص بندګان دی ۔ او په راتلونکو خلقو کښے مونږ د هغهٔ په حقله

فِى الۡاٰخِرِيۡنَ ۞ ١٢٩ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلۡ يَاسِيۡنَ ۞ ١٣٠ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجۡزِى

په وروستو خلقو کښے | (چه) سلام دِ وی | په الیاسؑ باندې | بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوُو

دا خبره پریښوده چه په الیاسؑ دِ سلام وی ۔ یقیناً مونږ هم دغه شان نیکانو خلقو ته

الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۞ ١٣١ اِنَّهٗ مِنۡ عِبَادِنَا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۞ ١٣٢ وَاِنَّ لُوۡطًا

نیکانو ته | بیشکه دے وو | زمونږ له نیکانو بندګانو نه | او بیشکه | لوطؑ (هم)

بدله ورکوُو ۔ بیشکه هغه زمونږ (یو کامل) ایماندار بنده وو ۔ او بیشکه لوطؑ هم

لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞ ١٣٣ اِذۡ نَجَّيۡنٰهُ وَاَهۡلَهٗۤ اَجۡمَعِيۡنَ ۞ ١٣٤

له رسولانو نه وو | هرکله چه خلاصے ورکړو مونږ دهٔ ته | او د دهٔ کور والو | ټولو ته

له پیغمبرانو نه وو ۔ څهٔ وخت چه مونږ هغه او د هغهٔ تعلقداران ټول بچ کړل ۔ خو یو

اِلَّا عَجُوۡزًا فِى الۡغٰبِرِيۡنَ ۞ ١٣٥ ثُمَّ دَمَّرۡنَا الۡاٰخَرِيۡنَ ۞ ١٣٦ وَاِنَّكُمۡ

سیوا د یوے بوډئ ښځے نه | چه د وروستو پاتے کیدونکو نه وه | بیا | مونږ هلاک کړل | نور خلق | او بیشکه تاسو

بوډه بوډئ (هلاکه شوه) چه په وروستو پاتے کیدونکو کښے وه ، بیا مو نور ټول خلق تباه کړل ۔ او تاسو خلق

لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ۝١٣٧ وَبِالَّيْلِ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝١٣٨ وَاِنَّ

تیریږئ | په دوئ باندې | د سحر په وخت | او په وخت د شپې هم | پس آیا تاسو عقل نه لرئ | او بیشکه

د هغوئ په علاقو تیریږئ ، د سحر هم او د شپې هم نو آیا تاسو دومره نه پوهیږئ؟ او

يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝١٣٩ اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ۝١٤٠

یونس (هم) | له پیغمبرانو نه وو | هر کله چه وتښتیدو | طرف د کشتۍ ته | چه ډکه شوې وه .

یونس هم یو پیغمبر وو ، ځکه وخت چه وتښتیدو (او یوې) ډکې کشتۍ ته ورسیدو .

فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ۝١٤١ فَالْتَقَمَهُ الْحُوْتُ وَهُوَ

پس قرعه ئې واچوله | پس شو دے | له مغلوبانو نه | پس لوړ تیر کړو دے | کب | او دے وو

نو په هسک کښې شریک شو نو ملزم شو . بیا دے یو مهي لوړ تیر کړو او (حال دا وو) چه

مُلِيْمٌ ۝١٤٢ فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ۝١٤٣ لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖٓ

پښیمانه | پس که چرې نه وې | (د اخبره) چه دے وو | له تسبیح کوونکو نه | نو پاتې شوې به وو دے | د هغې په خیټه کښې

دے (دخت) پښیمانه وو . بیا که چرې دے د الله تعالیٰ تسبیح کوونکے نه وے نو د دغه مهي په خیټه کښې به

اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝١٤٤ ۧ النصف فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ۝١٤٥

تر هغه ورځې پورې | (چه پکښې) به خلق راپاڅولے شي | پس واچولو مونږ دے | په میدان کښې | او دے وو | بیمار .

تر قیامته پروت وو . نو مونږ دے په یو هوار میدان کښې واچولو چه ډیر کمزورے شوے وو .

وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ۝١٤٦ وَاَرْسَلْنٰهُ

او را اوټوکوله مونږ | په ده باندې | یوه اونه | زیلئ داره (کدو) | او | ولیږلو مونږ دے

او مونږ په ده باندې یوه زیلئ داره اونه راز رغونه کړه . او مونږ دے یو لک

اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ اَوْ يَزِيْدُوْنَ ۝١٤٧ فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ۝١٤٨

سل زرو (یو لک خلقو) ته | یا د دے نه زیات | پس دوی ایمان راوړو | نو مونږ فائده ورکړه دوئ ته | تر خه موده پورې

یا د دے نه زیاتو خلقو طرف ته لیږلے وو، نو دوئ ایمان راوړو پس مونږ دوئ ته یو مقرره وخت پورې موقع ورکړه

فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ۝١٤٩

پس تپوس وکړه له دوئ نه | آیا ستا د رب د پاره | لوڼړه دي | او | دوی د پاره | خامن ؟

نو اوس د دوئ نه تپوس وکړه چه آیا ستا د رب لوڼړه دي او د دوئ د پاره خامن ؟

اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ۝١٥٠ اَلَآ

یا مونږ پیدا کړی دی | فرښتې | ښځې | او دوئ | گواه وو | خبردار !

آیا مونږ فرښتې ښځې پیدا کړی دی او دوئ هلته موجود وو (کتل ئې ورته) ؟ اے پیغمبره !

اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ۝١٥١ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝١٥٢

بیشکه دوی | له خپله دروغ ویینا نه | وائي | (چه) اولاد دے | د الله | او بیشکه دوی | دروغژن دي

ته واوره ! دوئ یقیناً دروغ وائي چه د الله تعالیٰ اولاد دے او دوئ بالکل دروغ وائي .

أَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾

آیا دهٔ خوښې کړې | لونړه | په ځامنو | په تاسو څهٔ شوی دی! | څنګه | تاسو فیصله کوئ ؟

آیا د الله تعالیٰ د ځامنو په مقابله کښې لونړه زیاتې خوښې دی، دا په تاسو څهٔ شوی دی دا څنګه (غلط) حکمونه لګوئ ؟

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ

پس آیا تاسو غور نهٔ کوئ ؟ | یا تاسو سره | (څهٔ) دلیل دے | ښکاره | پس راوړئ | خپل کتاب

بیا تاسو ولے نهٔ پوهیږئ ؟ آیا تاسو سره (په دې خبره) څهٔ څرګند دلیل شته ؟ نو (هغه) خپل (ذهن) کتاب مو

إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٥٧﴾ وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا

کهٔ چرې یئ تاسو رښتینی | او دوی مقرر کړه | په مینځ د الله | او په مینځ د پیریانو کښې | یوه رشته

راوړئ کهٔ تاسو رښتینی یئ ؟ او دوی د الله تعالیٰ او د پیریانو تر مینځهٔ (هم یوه) خپلوی جوړه کړې ده

وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحَانَ اللَّهِ

او بیشکه پوهه دی | پیریان | چه بیشکه دوی به | حاضرولے شی | پاک دے | الله

او په حقله د پیریانو خو دا عقیده ده چه هغوئ به راتیولے شی ـ (یاد ساتئ چه) الله تعالیٰ د هغه خبرو

عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾

له هغه څهٔ نه | چه دوی یې بیانوی | مګر | کوم چه بندګان دی | د الله | خالص

نه پاک دے کوم چه دا خلق بیانوی، سیوا د هغه خلقو نه چه د الله تعالیٰ خالص بندګان دی ـ

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ بِفَاتِنِينَ ﴿١٦٢﴾

پس بیشکه تاسو | او هغه څهٔ | چه تاسو یې عبادت کوئ | نهٔ یئ تاسو | د الله نه | اړوونکی

پس تاسو او ستاسو ټول معبودان (چه راغونډ شی نو) هیڅوک د الله تعالیٰ نه اړولے نهٔ شی ـ

إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ

مګر | هغه څوک چه | هغه ننوتونکے وی | دوزخ کښې | او نشته | له موږ نه (هیڅوک) | مګر | د هغهٔ

سیوا د هغه کس نه چه جهنم ته تلونکے دے ـ او (فرښتې وائی چه) په موږ کښې هر یو تن له یوه

مَقَامٌ مَعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾

ځائے | معلوم دے | او بیشکه موږ | صف تړونکی یو | او بیشکه موږ | تسبیح ویونکی یو

مقرره درجه مقرره ده، او موږ ټول په صف کښې (په ادب) ولاړ یو او موږ ټول د هغهٔ پاکی بیانوو ـ

وَإِنْ كَانُوا لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾

او بیشکه | دوی (کافرانو) به ویل | کهٔ چرې وے | موږ سره | کتاب | د پخوانو خلقو ـ

او دے خلقو (یعنی د مکے کافرانو) به ویل کهٔ موږ ته د پخوانو خلقو غوندې یو (د) نصیحت (کتاب) راغلے وے ـ

لَكُنَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوا بِهِ

نو موږ به وُو | بندګان | د الله | خاص | پس دوی انکار وکړو | د دے (قرآن)

نو موږ به ضرور د الله تعالیٰ خاص بندګان وو ـ بیا دوی د دے (قرآن) نه انکار وکړو

فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧١﴾

نو ژر به | دوی پوهه شي | او له وړاندې نه مقرر شوې ده | زمونږ حکم | (زمونږ بندګانو (په حق کښې) | چه پیغمبران دی.

نو ژر به ورته حال معلوم شي. او زمونږ پیغمبرانو بندګانو ته زمونږ دا خبره د پخوانه مقرر شوې ده چه

اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿١٧٢﴾ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿١٧٣﴾ فَتَوَلَّ

چه بیشکه هم دوی دی | چه مدد به ورکولې شي | او بیشکه | لښکر زمونږ | هم دا دې | غالب | پس ته مخ واړوه

هم د دوی به مدد کولې شي. او هم زمونږ لښکر به غالب راځي. نو ترخه موده پورې

عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿١٧٤﴾ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧٥﴾ اَفَبِعَذَابِنَا

له دوی نه | ترخه موده | او ګوره دوی ته | پس ژر به | دوی (هم) وګوري | پس آیا زمونږ عذاب

د دوی د خبرو پرواه مه ساته. او لږ د دوی حال ته ګوره چه دوی به هم ژر (خپل انجام) وګوري، آیا دوی زمونږ

يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿١٧٦﴾ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿١٧٧﴾

دوی ژر غواړي | نو هر کله چه | هغه نازل شي | د دوی په میدان کښې | نو بد به وي | سحر | د دغه ویرول شوو

عذاب ژر غواړي. نو کوم وخت چه دغه عذاب د دوی په میدان کښې راکوز شي نو د ویرول شوو خلقو دپاره به هغه سحر ډیر خراب وي

وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿١٧٨﴾ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧٩﴾

او مخ واړوه | له دوی نه | ترخه موده | او ګوره | نو ژر به | دوی (هم) وګوري

او ته ترخه موده پورې د دوی پرواه مه ساته او دوی ته ګوره دوی به ژر (د) خپل عمل (نتیجه) ووینې

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٨٠﴾

پاک دے | رب ستا | چه رب دے | د عزت والا | له هغه څه نه | چه دوی ئې بیانوي.

ستا رب چه د عزت خاوند دے، د دوی د بیان کړو خبرو نه پاک دے.

وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٨١﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٨٢﴾ ع ۵

او سلام دې وي | په پیغمبرانو | او ټول تعریفونه | الله د پاره دي | چه رب دے | د ټولو جهانونو

او په ټولو پیغمبرانو دې سلام وي. او ټول تعریفونه الله تعالیٰ لره دي چه د ټولو جهانونو رب دے.

سُوْرَةُ صٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٍ وَّ ثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّ خَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سوره صٓ په مکه کښې نازل شوې او په دې کښې ۸۸ آیتونه او ۵ رکوع ګانې دي

(شروع) د الله په نوم چه لوئې مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

د الله په نوم شروع کوم چه لوئې مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے.

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِى الذِّكْرِ ﴿١﴾ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِىْ عِزَّةٍ

صٓ. | قسم دے په قرآن | چه نصیحت ورکوونکے دے | بلکه | کوم خلق چه | منکر دي هغوئ | په تکبر کښې

صٓ. په قرآن باندې قسم دے چه د نصیحت نه ډک (کتاب) دے. بلکه دا کافران تش په غرور او په مخالفت کښې (بوخت)

وَّشِقَاقٍ ﴿٢﴾ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ

او مخالفت (کښې پراته دي) | څومره | مونږ هلاک کړل | له دوی نه وړاندې | قومونه | پس فریاد به وکړو دوی | او نه وو چلنه

پراته دي. د دوی نه وړومبې مونږ ډیر اُمتونه هلاک کړي دي نو هغوئ ډیرې نعرې سورې ووهلې

حِيْنَ مَنَاصٍ ③ وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ ز

وخت | دَخلاصی | او دوی تعجب وکړو | چه | راغے دوی ته | ویرَوُنکے | له دوی نه

خو دَ خلاصی وخت پرے تیر شوے وو او دوی په دَے خبره تعجب وکړو چه هم له دوی نه یو ویرَوُنکے (نبی) راغلے دے

وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ④ اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ

او ووئیل | کافرانو | چه دے (خو) | یو جادوګر دے | دروغژن | آیا جوړکړل دهٔ | ډیر معبودان

او کافرانو ووئیل چه دا خو یو دروغژن جادوګر دے. بس! دهٔ دَ دومره ډیرو خدایانو په

اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ عُجَابٌ ⑤ وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ

صرف یو معبود ؟ | بیشکه | دا (خو) | یو شیز دے | عجیبه | او روان شول | سرداران

ځائے هیڅ یو خدائے باقی پاتے کړو؟ دا خو ډیره نا آشنا خبره ده او دَ دوی مشرانو په تلو تلو کښے

مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰٓی اٰلِهَتِكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ

له دوی نه | چه | لاړ شئ | او ټینګ دَ سیږئ | په خپلو معبودانو | بیشکه | دا | یو خبره ده

ووئیل چه تاسو لاړ شئ. او په خپلو معبودانو ټینګ ولاړ وُسیږئ! په دے کښے (دَ دے سړی) ضرور

یُّرَادُ ⑥ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِی الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

دَ غرض | نه ده آوریدلے موږ | دا خبره | په دین | دروستنی کښے | نه ده | دا خبره | مګر

څهٔ دَ مطلب خبره ده، موږ خو دا خبره هیچرے په زوړ مذهب کښے آوریدلے نه ده، دا خو بس دَ ځان نه جوړه

اخْتِلَاقٌ ⑦ ءَاُنْزِلَ عَلَیْهِ الذِّكْرُ مِنْۢ بَیْنِنَا ۭ بَلْ هُمْ فِیْ شَكٍّ

له ځان نه جوړه شوے | آیا نازل شو | په دهٔ باندے | قرآن | زموږ له مینځ نه | (نه) بلکه دوی | په شک کښے دی

شوے خبره ده. آیا په موږ ټولو کښے هیڅ په دهٔ باندے دَ الله تعالیٰ کلام نازل شوے دے؟ (الله فرمائی چه نه) بلکه دوی

مِّنْ ذِكْرِیْ ۚ بَلْ لَّمَّا یَذُوْقُوْا عَذَابِ ۭ⑧ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ

زما له نصیحت نه | (نه) بلکه | لا نه دے څکلے دوی | زما عذاب | یا | دوی سره | خزانے دی

تر زما په نصیحت کښے شک دے بلکه (تراوسه) دوی زما دَ عذاب مزه نه ده څکلے. آیا دوی سره ستا دَ زبردست

رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِیْزِ الْوَهَّابِ ⑨ اَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ

دَ رحمت | ستا دَ رب | چه ډیر غالب | ډیر ورکوونکے دے | یا | دوی دَ پاره | بادشاهت | دَ آسمانونو

عطا کوونکی رب خزانے دی؟ آیا دوی ته دَ آسمانونو او دَ مزکے او دَ دوی ترمینځه

وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا ۫ فَلْیَرْتَقُوْا فِی الْاَسْبَابِ ⑩ جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ

او زمکے (دے) | او هغه چه دَ دوی مینځ کښے دی | نو دوی دِ وُ خیژی | اوښتل په رسو | یو لښکر دے | کوم چه په | هلته

دَ څیزونو واک اختیار حاصل دے؟ که دا ګوی نو بیا دوی له پکار دی چه دَ پړو په ذریعه (آسمان ته) وُخیژی. دا هم دَ خلقو یوه ډله ده

مَهْزُوْمٌ مِّنَ الْاَحْزَابِ ⑪ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ

شکست خوری | له ډیرو ډلو نه | دروغژن ګڼلی وو | له دوی نه وړاندے | قوم | دَ نوح | او عاد

کوم ته چه په دَ نوروډلو دَ طرف نه شکست وی. دَ دوی نه وړاندے دَ نوحؑ قوم او عادیانو او فرعون چه موګئے تکوهلو

وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿۱۲﴾ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ لْـَٔيْكَةِ ۚ أُولَٰٓئِكَ

او فرعون | او میخونو والا | او ثمودیانو | او قوم دَ لوط | او دَ بنړ اوسیدونکو | هم دا دي هغه

او فرعون او میخونو والا ، او ثمودیانو او دَ لوط قوم او دَ بنړ اوسیدونکو هم خپل پیغمبران دروغژن گڼلي وو ، هم دا ولې لوئې

الْأَحْزَابُ ﴿۱۳﴾ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿۱۴﴾

لښکرے | دے ټولو دروغژن گڼلي وو | پیغمبران | پس راپریوتو | زما عذاب

ډلے وے ، دوئ ټولو خپل رسولان دروغژن گڼلي وو ، نو زما دَ عذاب مستحق شول .

وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾

او انتظار نه کوي | دا خلق | مگر | دَ یوے درنے چغے | چه نشته دَ هغے | هیڅ وقفه

او دا خلق صرف دَ یوے درنے چغے انتظار کوي چه دَ هغے په مینځ کښے به هیڅ وقفه نه وي

وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۱۶﴾ اصْبِرْ

او دوی دوئیل | اے زمونږ ربه! | ژر راکړه | مونږ ته | زمونږ حصه | وړاندې | له ورځې دَ حساب نه | صبر وکړه

او دا خلق (دَ خندا نه) وائي چه اے زمونږ ربه! دَ حساب دَ ورځے نه وړاندې زر مونږ ته زمونږ حصه راکړه . ته دَ دوئ په دَ خبرو

عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿۱۷﴾

په هغه څه | چه دوی ئے وائي | او یاد کړه | زمونږ بنده | داؤد | چه ډیر طاقت ورو | بیشکه دے | رجوع کوونکے وو

صبر کوه ، او زمونږ بنده داؤد رایاد کړه چه ډیر طاقت والا وو او بیا بیا ئے الله تعالیٰ ته رجوع کوله

إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ﴿۱۸﴾ وَالطَّيْرَ

بیشکه مونږ | تابع کړی وو | غرونه | دَ ده سره | چه تسبیح به کوله دوئ | دَ ماښام | او دَ سحر | او مارغان (هم)

مونږ غرونه تابع کړی وو چه سحر او ماښام به ئے دَ ده سره تسبیح کوله . او مارغان به هم

مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿۱۹﴾ وَشَدَدْنَا مُلْكَهُۥ وَآتَيْنَاهُ

چه راجمع کیدل به | دوی ټول | ده ته | رجوع کوونکی وو | او مونږ مضبوطه کړے وه | دَ ده بادشاهي | او مونږ ورکړے وو ده ته

دَ ده سره جمع کیدل او تسبیح به ئے کوله دا ټول دَ ده دَ فرمان تابع وُو او مونږ دَ ده حکومت ډیر مضبوط کړے وو او مونږ ده ته

الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿۲۰﴾ وَهَلْ أَتَاكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ

حکمت | او فیصله کول | دَ خبرے | او آیا | راغلے دے تاته | خبر | دَ جګړه کوونکو

حکمت او فیصله کوونکے تقریر وربخښلے وو . او (اے پیغمبره!) آیا تاته دَ هغه دعویدارو خبره معلومه ده کله

إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿۲۱﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَىٰ دَاوُودَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ۖ قَالُوا

هر کله چه هغوئ په دیوال راواوړیدل | جُومات ته | هر کله چه هغوئ دننه راغلل | داؤد ته | نو دے ووېریدلو | له دوی نه | دوی ووئیل

چه هغوئ په دیوال راواوړیدل او په عبادت خانه کښے داخل شول هر کله چه داؤد له راغلل نو دے ترے ووېریدو هغوئ ورته ووئیل

لَا تَخَفْ ۖ خَصْمَانِ بَغَىٰ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ فَاحْكُم بَيْنَنَا

مه ویریږه | دوه جګړے والا یو | چه زیاتے وکړو | له مونږ نه یو | په بل باندې | نو ته فیصله وکړه | زمونږ په مینځ کښے

چه مه ویریږه ، مونږ دوه دوه معامله دار یو چه په معامله کښے مو له یو بل باندې زیاتے کړے نو تاسو زمونږ ترمینځ په انصاف

بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ إِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ هٰذَآ أَخِيْ

په انصاف | او بې انصافي مه کوه | او موږ ته وښایه | سمه لاره | بېشکه | دا | زما ورور دے

فیصله وکړه او فرق مه ساته ، او موږ ته سمه لاره وښایه ، دا سړے زما ورور دے ،

لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ فَقَالَ أَكْفِلْنِيْهَا

دهٔ سره | نهه نوی (٩٩) | ګډے دي | او ما سره ګډه ده | صرف یوه | پس دهٔ وویل | هغه ما ته وسپاره

چه دهٔ سره یو کم سل ګډے دي ، او ما سره یوه ګډه ده ، او دے ما ته وائي چه دغه یوه هم ما له راکړه

وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ

او سختي وکړه دهٔ په ما | په خبره کولو کښې | داؤد وویل | یقیناً | دهٔ ظلم وکړو په تا | په غوښتلو | ستا د ګډے

او په خبرو کښے را باندې ډیر غلبه کوي. داؤد ورته وویل ، دے چه ستا ګډه په خپلو ګډو کښے یو ځائے کول غواړي نو دا

إِلٰى نِعَاجِهٖ ۖ وَإِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِيْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

خپلو ګډو (کښے یو ځائے کولو دپاره) | او بېشکه | ډیر | شریکان | ظلم کوي | په یو بل | باندې

واقعي په تا زیاتے کوي او (هم دغسے) اکثر شریکان په یو بل باندې زیاتے کوي ، خو

إِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ۗ وَظَنَّ

مګر | هغه خلق چه | ایمان ئې راوړے دے | او عمل ئې وکړو | نیک | او لږ دي | دا سے خلق | او خیال وکړو

خوک چه ایماندار دي او نیک کارونه کوي (هغوی زیاتے نه کوي) او دا سے کسان ډیر لږ دي ، او داؤد دا

السجدة ١٠

دَاوٗدُ أَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّأَنَابَ ﴿٢٤﴾

داؤد | چه موږ ازمیښت وکړو په دهٔ | پس دهٔ معافي وغوښتله | د خپل رب نه | او پرېوتلو | په رکوع کښې | او | رجوع ئې وکړه

خیال وکړو چه موږ د هغهٔ امتحان اخستے دے نو خپل رب ته ئې توبه وویستله او په سجده پرېوتلو او هغه ته ئې رجوع وکړه

فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ۖ وَإِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ

نو موږ معاف کړه | دهٔ ته | دا خبره | او بېشکه | دهٔ دپاره | موږ سره | نزدیوالے دے | او | ښه

نو موږ ورته د دغے خبرے معافي وکړه او هغه موږ ته نزدے دے او انجام ئې ډیر ښه

مَاٰبٍ ﴿٢٥﴾ يٰدَاوٗدُ إِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ

ځائے د ورتلو | اے داؤد! | بېشکه موږ | ته جوړ کړے | خلیفه | په زمکه کښې | پس فیصله وکړه

دے. اے داؤده! موږ ته په زمکه حاکم کړے یې ، نو د خلقو ترمینځه

بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ

د خلقو په مینځ کښې | په انصاف سره | او پیروي مه کوه | د خواهش | پس هغه به ګمراه کړي تا | د لارے نه

په انصاف سره فیصله کوه او په خپلو خواهشونو پسے مه ځه ، ګنی د الله د لارے نه به دې لارے

اللّٰهِ ۗ إِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ

د الله | بېشکه | هغه کسان | چه ګمراه شول | د الله د لارے نه | هغوی دپاره | عذاب دے

کړي ، څوک چه د الله د لارے نه بې لارے شي ، هغوی له سخت عذاب مقرر

ع ١٢ / ١١

شَدِيدٌۢ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿٢٦﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ

سخت | په سبب د هغه | چه هیره کړه دوی | ورځ د حساب | او نه دي پیدا کړي مونږ | آسمان | او زمکه

دے ځکه چه د حساب ورځے هیره کړے وه . او مونږ آسمان او زمکه او د دے دواړو په مینځ کښے

وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ

او څه چه | د دوی په مینځ کښے دی | بے کاره | دا خو | خیال دے | د هغه کسانو | چه کافران دي | پس هلاکت دے د هغه ( )

څیزونه بے مطلبه نه دي پیدا کړي ، دا خو د هغه خلقو ګمان دے چه کافران دي ، نو کافرانو له خنه لویه بربادي

كَفَرُوا مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

چه منکر دي | له عذاب د اور نه | آیا کړو مونږ | هغه کسان چه | ایمان ئے راوړے دے | او هغوی عمل وکړو | نیک

مقرر ده چه (د دوزخ) اور دے . آیا مونږ به د ایمان او د نیک عمل خاوندان د هغه چا سره برابر ګڼړو چه

كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾ كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ

په شان د فساد کوونکو | په زمکه کښے | یا کړو مونږ | پرهیزګاران | په شان د بد کارانو | دا کتاب دے | چه نازل کړو مونږ

په ملک کښے فساد ونه خوروي ، آیا مونږ به پرهیزګاران د بدکارو سره یو شان ګڼړو ؟ دا (قرآن) یو

إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٩﴾ وَوَهَبْنَا

په تا باندې | برکت والا دے | چه دوی غور وکړي | د دے په آیتونو کښے | او چه نصیحت حاصل کړي | عقل والا | او ورکړو مونږ

برکتي کتاب دے چه مونږ په تا باندې د دے غرض نازل کړے دے چه دوی د دے په آیتونو کښے فکر وکړي او عقلمند تر دے نه نصیحت حاصل کړي او مونږ

لِدَاوُودَ سُلَيْمَانَ ۚ نِعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾ إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ

داؤد ته | سلیمان | ډیر ښه بنده وو | بیشکه هغه | رجوع کوونکے وو | هر کله چه پیش کړے شول | ده ته

داؤد ته (ځوئے) سلیمان عطا کړو چه ډیر ښه بنده وو او (الله ته) ډیر رجوع کوونکے وو ، هغه واقعه زیاده کړه چه په ماښام کښے هغه

بِالْعَشِيِّ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ

په ماښام کښے | اصیل آسونه | تیز رفتار | نو هغه ووئیل | بیشکه ما | خوښ کړو | د مال محبت

ته اصیل ښه آسونه پیش کړے شول . نو هغه ووئیل چه زه د مال په محبت کښے د خپل رب د یاد ولو نه غافله

عَن ذِكْرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا عَلَيَّ ۖ فَطَفِقَ

د خپل رب په یاد باندې | تر دے چه | پټ شو (نمر) | په پرده کښے | دا واپس کړئ هغه | ما ته | پس شروع وکړه ده

پاتے شوم ، تر دے چه نمر (د مغرب) په پرده کښے پټ شو . دا (آسونه) خو ما ته واپس کړئ . او هغه د هغوي

مَسْحًا بِالسُّوقِ وَالْأَعْنَاقِ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا

په لاس رسولو | د هغوي پنډو | او څټونو ته | او بیشکه مونږ آزمیښت وکړو | په سلیمان | او واچولو مونږ

په پنډو او څټونو د لاس شروع وکړه . او مونږ سلیمان په یو آزمیښت کښے واچولو او د هغه په

عَلَىٰ كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي

په تخت د ده | یو نیمګړے جسم | بیا ده رجوع وکړه | ده ووئیل آے زما ربه | بخښنه وکړه ما ته | او عطا کړه | ما ته

تخت مونږ یو نیمګړے جسم واچولو ، نو بیا هغه (الله ته) رجوع وکړه ، ده دعا وکړه چه اے زما ربه ! ما ته معافي وکړه او ما ته

مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِىْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِىْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا

بادشاهي | چه حاصله نه شي | هیچا ته | پس له ما نه | بیشکه ته ئې | ډیر زیات بخښنه کوونکے یې | پس مونږ تابع کړله

بادشاهي داسې راکړه چه زما نه بغیر (په دې زمانه کښې) بل هیچا ته حاصله نه شي بیشکه ته ډیر زیات بخښنه کوونکے یې، نو مونږ باد ئې

لَهُ الرِّيْحَ تَجْرِىْ بِاَمْرِهٖ رُخَآءً حَيْثُ اَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَالشَّيٰطِيْنَ

ده د پاره | هوا | چه تله به | د ده په حکم | په نرمۍ | چرته چه به | ده تلل غوښتل | او دیوان

د هغه تابع کړل چه د هغه په حکم په قابو دننه الوتل کم خوا چه به د هغه خوښه وه، او ټول عمارت جوړوونکي

كُلَّ بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾ وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِى الْاَصْفَادِ ﴿٣٨﴾ هٰذَا

چه ټول عمارت جوړوونکي | او غوپه وهونکي وو | او نور (دیوان) | چه تړلي به پراته وو | په زنځیرونو کښې | دا دے

او غوپه وهونکي پیریان مو د هغه تابع کړل او نور پیریان هم چه په زنځیرونو کښې به تړلي پراته وو دا زمونږ

عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا

زمونږ بخښش | پس ورکړه کوه | او که ځان سره ئې ږدے | بغیر | د حساب نه | او بیشکه ده د پاره | مونږ سره

درکول دي، نو که ته ئې چاله ورکړه کوے او که ئې نه کوے ستا نه په دې هیڅ پوښتنه نه کیږي. او هغه مونږ ته ډیر نزدے

لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٤٠﴾ وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ ۘ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ

نزدیواله | او ښه ځائے د ورتلو دے | او یاد کړه | زمونږ بنده | ایوب | هرکله چه | ده آواز وکړو | خپل رب ته

دے او انجام ئې ډیر ښه دے. او زمونږ بنده ایوب را یاد کړه، څه وخت چه هغه خپل رب ته آواز وکړو

اَنِّىْ مَسَّنِىَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ ﴿٤١﴾ اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ ۚ هٰذَا

چه رسولے ئې ماته | شیطان | تکلیف | او عذاب | ووهه (په زمکه) | خپله ښپه | دا

چه شیطان زه په رنځ او په آزار اخته کړے یم (جواب ورته وشو چه) ته خپله ښپه په زمکه ووهه (او واخله

مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿٤٢﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ

د غسل اوبه دي | یخې | او د څښلو | او مونږ ورکړل | ده ته | د ده د کور خلق | او په شان د دوی (نور)

دا یوه یخه چینه (راوتله) ده د لامبلو او څښلو د پاره. او مونږ ورته ټول خپلوان پسته ورښخښل او د هغوی هومره ور سره

مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرٰى لِاُولِى الْاَلْبَابِ ﴿٤٣﴾ وَخُذْ بِيَدِكَ

د دوی سره | په خپل رحمت سره | او په طور د نصیحت | عقلمندو د پاره | او واخله | په خپل لاس کښې

نور هم، دا زمونږ مهرباني وه او د عقلمندو د پاره د عبرت سبق وو او (اے ایوبه!) ته په خپل لاس کښې یو

ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ ؕ اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ؕ نِعْمَ

یو موټے د کې | بیا ووهه | په دے سره | او قسم مه ماتوه | بیشکه مونږ | بیا موندو دے | صابره | دے ښکلے ښه

موټے د کې واخله او په دے (خپله ښځه) ووهه او قسم مه ماتوه، مونږ واقعي هغه ډیر صابره بیا موندو، هغه ډیر ښه

الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿٤٤﴾ وَاذْكُرْ عِبٰدَنَآ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

بنده وو | بیشکه دے ډیر رجوع کوونکے وو | او یاد کړه | بندګان زمونږ | ابراهیم | او اسحاق | او یعقوب

بنده وو او مونږ ته ډیر رجوع کوونکے وو. او زمونږ بندګان ابراهیم، اسحاق او یعقوب را یاد کړه.

أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ ﴿۴۵﴾ إِنَّا أَخْلَصْنٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى

خاوندان د لاسونو | او سترګو | بیشکه موږ | غوره کړی وو دوی | یو خاص فضیلت سره | چه یاد دے

چه د (مضبوطو) لاسونو او د (سترګو) خاوندان وو موږ هغوئ په یوه خاص خبره کښے مخصوص کړی وو چه هغه د آخ

الدَّارِ ﴿۴۶﴾ وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ﴿۴۷﴾ وَاذْكُرْ إِسْمٰعِيلَ

د آخرت | او بیشکه دوی | زموږ په نزد | غوره شوی | بهترین خلق (وو) | او یاد کړه | اسماعیل

یادساتنه ده . دغه خلق موږ سره چونړ شوی او ډیر نیکان خلق دی او اسماعیل او الیسعؑ

وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ﴿۴۸﴾ هٰذَا ذِكْرٌ ۚ وَإِنَّ

او الیسعؑ | او ذوالکفلؑ | او هر یو | له نیکانو نه وو | دا | نصیحت دے | او بیشکه

او ذوالکفلؑ هم را یاد کړه او دوئ ټول په نیکانو خلقو کښے شامل وو دا د نصیحت یو بیان وُشو او پرهیزګارانو

لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿۴۹﴾ جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ

پرهیزګارانو د پاره | ښه | ځائے د ورتلو دے | باغونه دی | د همیشه اُسیدلو | پرانستے شوی به وی | دوئ د پاره

له ډیر ښه ځائے د ورتلو دے . د همیشه اُسیدو باغونه دی د کومو دروازے چه به دوی

الْأَبْوَابُ ﴿۵۰﴾ مُتَّكِئِينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ﴿۵۱﴾

دروازے | تکیه به ئے لګولی وی | په هغے کښے | غواړی به | په هغے کښے | میوے | ډیرے | او شراب

د پاره پرانستے پرتے وی دوئ به په دغه باغونو کښے ډوډے وهلی وی او ډیرے ډیرے میوے او شربتونه به راغواړی

وَعِندَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴿۵۲﴾ هٰذَا مَا تُوعَدُونَ

او دوی سره (به ښځے وی) | ښکته ساتونکے | د سترګو | د یو بل همزولے | هم داده | د څه چه | تاسو سره وعده کولے شو

او ورسره به (د حیا نه) سترګے کوزے ساتونکے همزولے جینکئ ناستے وی ، دا هغه نعمتونه دی چه تاسو سره د حساب د

لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۵۳﴾ إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ ﴿۵۴﴾ هٰذَا ۚ

د پاره د ورځے | د حساب | بیشکه | دا | زموږ روزی ده | نشته دے د دے | ختمیدل | دا دے

ورځے د پاره د هغے وعده کیږی ، دا زموږ هغه ورکړه ده چه د هغے هیڅکله خلاصے نشته ، دا خبره خو وُشوه

وَإِنَّ لِلطّٰغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ ﴿۵۵﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۖ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۵۶﴾

او بیشکه | سرکشانو د پاره | ډیر بد ځائے د ورتلو دے | دوزخ دے | دننه به ورځی دوئ هغے ته | پس هغه بد ځائے دے

او سرکشانو له ډیر خراب ځائے د ورتلو دے یعنی دوزخ چه دوئ به ورته ورننوځی نو هغه ډیر زیات خراب ځائے دے

هٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾ وَآخَرُ مِن شَكْلِهِ أَزْوٰجٌ ﴿۵۸﴾

دا دے | پس وڅکئ دا | یشیدلے اوبۀ | او زوے | او د دے نه علاوه | د دے په شکل | ډیر قسمونه (به وی)

دا یشیدلے اوبۀ او زوے دی نو دوئ د اوس د دے مزه وڅکی او د دغه شان نور ډیر څیزونه دی -

هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۖ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ ۚ إِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ﴿۵۹﴾

دا دے | یو فوج | دننه راتلونکے | تاسو سره | دوی د چرے خوشحاله نشی | بیشکه دوی | داخلیدونکی دی | دوزخ کښے

دا یوه بله ډله تاسو سره ننوزی دوی د چرے هم خوشحاله نۀ وی دوئ په دوزخ کښے پریوتونکی دی

قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا فَبِئْسَ

دوی به وائی | (نه) بلکه | هم تاسو ته دِ | خوشحالی نصیب نه شی | هم تاسو | را مخکښې کړې دی دا (عذاب) | موږ ته (دپاره) | نو ډیره خرابه

هغوی به ووائی چه نا بلکه هم ستا دِ چرې خوشحالی نصیب نه شی، هم تاسو خو راته دا (دوزخ) را مخکښې کړے دے، نو دا ډیر خرابه

الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا

هستوګنه ده | دوی به وائی | اے زمونږ ربه! | چاچه را مخکښې کړې دے | موږ ته (دپاره) | دا (عذاب) | نو زیات کړه هغه دپاره | عذاب

هستوګنه ده. هغوی به ووائی چه اے زمونږ ربه! دا مصیبت چه موږ ته چا را مخکښې کړے دے هغه له په دوزخ کښې یو په

ضِعْفًا فِى النَّارِ ﴿٦١﴾ وَقَالُوْا مَا لَنَا لَا نَرٰى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ

دوچنده | په دوزخ کښې | او دوی به وائی | په موږ څه وشو | چه موږ نه وینو | هغه سړی | چه شمیرل به موږ هغوی

دوه عذاب ورکړه. او وائی به چه څه خبره ده چه موږ هغه خلق (دلته) نه وینو کوم چه به موږ په

مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ﴿٦٣﴾

په خرابو خلقو کښې | آیا موږ کولے هغوی سره | ټوقے | یا | اوړیږی دی | له هغوی نه | (زموږ) سترګے.

شریرانو کښې شمیرل. دا موږ ورپورے هسے ټوقے کولے کهٔ نه زموږ نظر نه هغوی اوړیدلی دی

اِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا مُنْذِرٌ

بیشکه | دا | برحق دی | جګړه کول | د دوزخیانو | ووایه | بیشکه | زهٔ | یو ویروونکے یم

دی. د دوزخیانو ترمینځه دا جنګ جګړه بالکل حقه خبره ده. ته اعلان وکړه چه زهٔ خو صرف یو ویروونکے یم.

وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او نشته | بل څوک معبود | سیوا د الله نه | چه یو دے | ډیر غالب | رب دے | د آسمانونو | او د زمکے

او بغیر د یو غالب الله نه بل هیڅوک معبود نشته. هغه د آسمانونو او د زمکے او د دوی ترمینځه

وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيْمٌ ﴿٦٧﴾ اَنْتُمْ

او د هغه څه چه د دوی په مینځ کښې دی | ډیر غالب | ډیر بخښونکے دے | ووایه | هغه (قیامت) | خبره دے | ډیره لویه | تاسو (خلق)

د ټولو څیزونو رب دے زبردست دے ډیر بخښونکے دے. ته ووایه چه هغه (قیامت) یو لویه خبره ده د کوم نه چه

عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِىَ مِنْ عِلْمٍۢ بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰٓى اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٦٩﴾

له هغې نه | مخ ګرځوونکی یئ | نهٔ وو | ماته | هیڅ علم | د برتنی دنیا د فرښتو | هر کله چه هغوی بحث کولو

تاسو بے پروا شوی یئ. ماته د برتنی دنیا د فرښتو هیڅ خبر نهٔ وو هر کله چه هغوی په خپل مینځ کښې (په پیدا وښت د آدم) بحث کولو

اِنْ يُّوْحٰٓى اِلَىَّ اِلَّآ اَنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٧٠﴾ اِذْ قَالَ رَبُّكَ

نهٔ شی کولے وحی | ماته | مګر دا چه | زهٔ خو صرف | ویروونکے یم | ښکاره | هر کله چه وفرمایل | ستا رب

ماته خو د وحی په ذریعه صرف هم دا ښودلے شی چه زهٔ ښکاره ویروونکے یم. هر کله چه ستا رب فرښتو ته

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّىْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ﴿٧١﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ

فرښتو ته | چه بیشکه زهٔ | پیدا کوونکے یم | یو انسان | له خټے نه | بیا هر کله | چه زهٔ برابر کړم | او ووبوکم

دا ووئیل چه زهٔ له خټے نه انسان جوړول غواړم. بیا هر کله چه زهٔ هغه پوره جوړ کړم او د خپل روح

فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ

په ده کښې | دروح خپل | پس پرېوزئ | ده ته | سجده کوونکي | پس سجده وکړه | فرښتو

نه روح پوکښې وپوکړم ، نو تاسو ټول هغهٔ ته په سجده پرېوځئ . نو ټولو فرښتو په جمع سجده

كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿٧٣﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٤﴾

ټولو | په جمع | سیوا | د ابلیس نه | هغهٔ تکبر وکړو | او هغه شو | له کافرانو نه

وکړه . خو یو ابلیس ونه کړه ځان ئې غټ اوګڼلو او کافر شو .

قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ

وئې فرمائیل | اے ابلیس ! | څهٔ څیز منع کړے ته | له دې نه چه | ته سجده وکړې | ده ته | کوم چه ما پیدا کړو | په خپل لاس

(الله) تپوس وکړو (چه) اے ابلیس ! ته څهٔ څیز هغهٔ ته د سجدې کولو نه منع کړے کوم چه ما په خپلو لاسونو جوړ کړے

اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۖ خَلَقْتَنِيْ

آیا تا تکبر وکړو | یا ته ئې | د اوچتې درجې ؟ | ده ووئیل | زهٔ | غوره یم | له ده نه | تا پیدا کړم زهٔ

دے ؟ آیا ته په غرور کښې راغلې یا ته د لوئے مرتبې خاوند یې ؟ ابلیس ووئیل زهٔ له دهٔ نه غوره یم ، زهٔ تا د اور نه

مِنْ نَّارٍ وَّ خَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَاِنَّكَ

له اور نه | او | تا پیدا کړو دے | له خټې نه | وئې فرمائیل | پس اوځه ته | د دے ځائے نه | پس بیشکه ته

پیدا کړے یم او دے دې له خټو نه پیدا کړے دے . حکم وشو چه د دے ځائے نه بهر وځه ته رټلے شوے

رَجِيْمٌ ﴿٧٧﴾ وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْٓ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ

رټلے شوے یې | او بیشکه | په تا باندې | زما لعنت دے | تر ورځې د قیامت | ده ووئیل | اے زما ربه !

یې . او په تا به د قیامت تر ورځې پورے زما لعنت وریږی . هغهٔ ووئیل چه اے زما ربه ! ما ته

فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِلٰى يَوْمِ

پس مهلت راکړه ما ته | تر هغې ورځې پورې | چه خلق دوباره را پاڅولې شي | وفرمائیل | بیشکه تا ته | مهلت درکړے شو | تر هغې ورځې پورې

تر هغې ورځې مهلت راکړه هرکله چه به مړی دوباره راپاڅولے شي . الله وفرمائیل چه ځه ! تا ته مهلت دے . د یو ټاکلے

الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٢﴾ اِلَّا عِبَادَكَ

چه د هغې وخت | معلوم دے | ده ووئیل | قسم دے ستا په عزت | خامخا به ګمراه کړم دوی | ټول | سیوا ستا د هغه بندګانو

ورځې پورے . (ابلیس) ووئیل چه ستا په عزت مې دې قسم وی چه زهٔ به دوی ټول ګمراه کوم ، سیوا ستا د هغه

مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٨٣﴾ قَالَ فَالْحَقُّ ۡ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ﴿٨٤﴾ لَاَمْلَئَنَّ

له دوی نه | چه خالص کړے شوی دی | وئے فرمائیل | پس هم دا حق دے | او هم حق | زهٔ وایم | چه زهٔ به ضرور ډک کړم

بندګانو نه چه مخلص دی . الله وفرمائیل چه زهٔ درته رښتیا وایم او زهٔ خو تل رښتیا وایم چه زهٔ به له تا نه

جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَآ اَسْئَلُكُمْ

دوزخ | له تا نه | او له هغو چا نه چه پیروی کوی ستا | له دوی | ټولو نه | ووایه | نهٔ غواړم له تاسو نه

او ستا د ټولو منونکو نه دوزخ ډک کړم ، (اے پیغمبره !) ته ووایه چه زهٔ تاسو نه په

عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ﴿٨٦﴾ اِنْ هُوَ

پہ دے | څۀ مزدوری | او نۀ یم زۀ | لہ تکلف کوونکو نہ | نۀ دے دا (قرآن)

دے قرآن باندې هیڅ اجرتۀ غواړم ، او نۀ زۀ تکلف کوونکے یم ۰ دا خو د دنیا

اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ﴿٨٨﴾

مګر | نصیحت | د ټولو جهانونو د پاره | او تاسو به ضرور وپیژنئ | د دے حال | څۀ موده پس

خلقو لہ یو نصیحت دے ، او یقیناً ډیر زر به دے خلقو ته د دے حقیقت معلوم شي.

سُوْرَةُ الزُّمَرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّثَمَانُ رُكُوْعَاتٍ

سورة زمر په مکه کښے نازل شو په | شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ٧٥ آیتونه او اته رکوع گانې دي

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے.

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿١﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ

نازل کړے شوے دے | دا کتاب | د الله د طرف نه | چه ډیر غالب | حکمت والا دے | بیشکه مونږ نازل کړو | ستا طرف ته

دا کتاب د الله تعالیٰ د طرف نه نازل شوے دے چه غالب دے د حکمتونو خاوند دے. مونږه دا کتاب په حقه سره

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ﴿٢﴾ اَلَا لِلّٰهِ

دا کتاب | برحق | پس عبادت کوه د الله | خالص کوونکے | د هٔ د پاره | عبادت | واوره! | الله د پاره

ستا طرف ته راکوز کړے دے . نو ته په اخلاص سره د الله تعالیٰ عبادت کوه ۰ یاد ساته! خالصه بندګي

الدِّيْنُ الْخَالِصُ ۗ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ

عبادت دے | خالص | او کوم چه | نیولی دي | سیوا د الله نه | دوستان | چه نۀ | کوو مونږ عبادت د دوی

هم د الله تعالیٰ د پاره ده. او چا چه د الله تعالیٰ نه سیوا نور شریکان جوړ کړی دي (او وائی) چه مونږ خو بس څکه

اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ۗ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا

مګر د پاره د دے چه نژدے کړی دوی مونږ | الله ته | ډیر نژدے | بیشکه الله به | فیصله وکړی | د دوی په مینځ کښے | په هغه خبره کښے

د دوی عبادت کوو چه الله تعالیٰ ته مونږ نژدے کړی. بیشکه (د قیامت په ورځ) هر کله چه الله تعالیٰ د دوی په مینځ کښے د هغه خبرے

هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾

په کوم کښے چه دوی | اختلاف کوو | بیشکه الله | لاره نۀ ښائی | هغه چاته چه | دروغژن | ناشکره دے

فیصله وکړی په کومه کښے چه دوی جګړه کوله. الله تعالیٰ داسے سړے په سمه لاره نۀ راولی چه دروغژن او انکار کوونکے وی.

لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ

که چیرے غوښتلے | الله چه | ونیسی | ځوک ځوئے | نو غوره کړے به ئے وو | له خپل مخلوقات نه | څوک ئے چه غوښتلے

که الله تعالیٰ ځان له اولاد نیول غوښتلے نو په خپل مخلوق کښے څوک چه ئے خوښ وو هغه به ئے چوڼ کړے وو .

سُبْحٰنَهٗ ۗ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٤﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

ډیر خو پاک دے | هم دے الله دے | یو ازے | ډیر غالب | هٔ پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه

هغه پاک دے هغه داسے الله دے چه یو دے زبردست دے ، هغهٔ آسمانونه او زمکه په حکمت پیدا

ع ٥ | وقف لازم

بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ

برحق | دے رانغاړی شپه | په ورځ | ورځ | او رانغاړی | په شپه | او ده تابع کړل

کړی دی . هغه شپه په ورځ باندې رانغاړی او ورځ په شپه باندې رانغاړی . او لمر او

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ

لمر | او سپوږمۍ | هر یو روان دے | یو وخت | مقرر یو ورځے | واوره | هم دے دے | غالب

سپوږمۍ ئې په کار لګولی دی چه هر یو په تر ټاکلی نیټے پورے روان دی . یاد ساته چه هغه غالب دے

الْغَفَّارُ ۝٥ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا

بخښونکے | ده پیدا کړی تاسو | له یو کس (آدم) نه | بیا | ده پیدا کړه | له ده نه | بی بی د ده

ډیر بخښونکے دے . هغه تاسو د یو تن نه راپیدا کړئ . بیا ئے د هغه د ځان نه ورله جوړه پیدا کړه او

وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ

او نښکته ئے را ولیږل | تاسو د پاره | له څارو نه | اته | جوړے | پیدا کوی | په خیټو کښے

تاسو له ئے په څارو کښے اته جوړے پیدا کړے . هغه تاسو ستاسو د میندو په خیټو

اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ

ستاسو د میندو | (یو قسم) پیدا کول | پس له | (بل قسم) پیدا کولو نه | په تیارو | دریو کښے

کښے په مختلفو مرحلو کښے په دریو تیارو کښے دننه پیدا کوی

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝٦

هم دے دے الله | رب ستاسو | هم د ده ده | بادشاهی | بل څوک معبود نشته | سیوا د ده نه | پس کوم خوا | ګرځولے شئ تاسو

هم دا الله ستاسو رب دے بادشاهی یوازے د هغه ده . د هغه نه سیوا بل معبود نشته نو بیا تاسو کوم خوا روان یئ

اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ

که چرے تاسو انکار کوئ | نو بیشکه | الله | بے نیازه دے | له تاسو نه | او دے نه خوښوی | خپلو بندګانو د پاره | کفر

که چرے تاسو ناشکری کوئ نو (یاد ساتئ چه) الله تاسو نه بے پرواه دے او هغه خپلو بندیانو له کفر نه خوښوی

وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى

او که چرے تاسو شکر کوئ | نو دے خوښوی هغه | تاسو د پاره | او نه به اوچتوی | هیڅ اوچتونکے | بار | د بل چا

او که تاسو شکر اوباسئ نو هغه ئے درله خوښوی . او (واوره !) هیڅوک بوج اوچتونکے به د بل بوج نه اوچتوی

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ

بیا به | طرف د رب ستاسو ته | ستاسو واپس تلل دی | بیا به خبر ورکړی تاسو ته | هغه څه | چه تاسو به کول

بیا به تاسو خپل رب ته پستنه ورځئ ، نو هغه به درته ستاسو ټول کارونه (یو په یو) ښائی

اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝٧ وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا

بیشکه دے | پوهه دے | په رازونو د سینو | او هر کله چه ورسیږی | انسان ته | څه تکلیف | نو بلی

هغه ته د زړونو پټ رازونه په ښه شان معلوم دی . او کله چه انسان ته څه تکلیف ورسیږی نو خپل رب ته

رَبَّهٗ مُنِيْبًا اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ

خپل رب | په رجوع کونکو | دَده طرف ته | بیا | هرکله چه | ورکړی ده ته | څه نعمت | له خپل طرف نه | نو دے هیر کړی

رجوع شي او دَ هغهٔ بلنه کوی ، بیا چه هغه ورله دَ خپل طرف نه نعمت ورکړی ، نو هغه خبره هیره

مَا كَانَ يَدْعُوْٓا اِلَيْهِ مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلَّ

هغه څه چه دُعائے کوله | دَ هغهٔ | له دے نه وړاندې | او دے مقرر کړی | الله دَ پاره | شریکان | دَ پاره دَ دے چه ګمراه کړی

کړی دَ کوم دَ پاره چه ئے وړاندې بلنه کوله او خدائے له شریکان جوړول شروع کړی، نتیجه ئے دا شی چه نور

عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيْلًا ڰ اِنَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ⑧

دَ الله دَ لارے نه | وُوایه | فائده واخله | په خپل کفر سره | لږه | بیشکه ته | له دوزخیانو نه یې -

خلق دَ هغه دَ لارے نه ګمراه کړی ، ته ورته وُوایه چه دَ خپل کفر نه یو څو ورځے فائده اوچته کړه ، بیشکه ته دوزخی یې -

اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَاۗءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَاۗىِٕمًا يَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ

آیا هغه څوک چه | عبادت کوونکے وی | دَ شپے په وختونو کښے | په سجده | او په ولاړه | ویریږی | له آخرت نه

(آیا دا سړے غوره دے) یا هغه چه دَ شپے په وختونو کښے په سجده پروت او په قیام ولاړ وی دَ آخرت نه ویریږی

وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ۭ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ

او اُمید لری | دَ رحمت | دَ رب خپل | وُوایه | آیا | برابر دی | هغه خلق چه | پوهیږی

او دَ خپل رب دَ رحمت اُمید واروی ، نو ته وُوایه چه آیا پوهه خلق او ناپوهه

وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۭ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ⑨ۧ قُلْ يٰعِبَادِ

او هغه خلق چه | نهٔ پوهیږی | بیشکه | نصیحت قبلوی | خاوندان دَ عقل | وُوایه | اے زما بندګانو

یکسان یو برابر دی ؟ نصیحت خو بس هغه څوک قبلوی چه عقلمند وی - وُوایه اے زما مومنانو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۭ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ

چه | ایمان راوړے دے تاسو | ویریږئ | دَ خپل رب نه | دَ پاره دَ هغه خلقو | کوم چه نیکی وکړه | په دے

بندګانو! دَ خپل رب نه ویره کوئ - څوک چه په دے دُنیا کښے نیکی وکړی هغهٔ له نیکه

الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۭ وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ۭ اِنَّمَا يُوَفَّى

دُنیا کښے | نیکه بدله ده | او زمکه | دَ الله | فراخه ده | بیشکه | پوره به ورکړے شی

بدله مقرر ده او دَ الله تعالیٰ زمکه اُرته بیرته پرته ده (یاد ساته چه) کوم خلق دَ صبر

الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ⑩ قُلْ اِنِّىْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ

صبر کوونکو ته | دَ دوی اجر | بے حسابه | وُوایه | بیشکه ما ته حکم شوے دے | چه زهٔ عبادت وکړم | دَ الله

نه کار اخلی هغوی له بے حسابه اجر او ثواب مقرر دے - ته وُوایه چه ما ته دا حکم شوے دے چه دَ الله تعالیٰ عبادت دِ

مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ⑪ۙ وَاُمِرْتُ لِاَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ⑫

خالص کړے | هغه دَ پاره | دین | او ما ته حکم شوے دے | چه یم دِ زهٔ | اول | دَ مسلمانانو

په دے شان کوم چه عبادت خالص هغهٔ له ساتم او دا حکم راته شوے دے چه په مسلمانانو کښے دِ اول (نمبر) مسلمان یم

ع ٩ ١٥

قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾ قُلِ اللَّهَ

ووایه | چه بیشکه زهٔ ویریږم | که چیرې زهٔ نافرماني وکړم | د خپل رب | له عذاب نه | د یوې ورځې لوئې | ووایه | خاص الله

ووایه چه که زهٔ د خپل رب خبره ونهٔ منم نو د (قیامت) د لوئې ورځې د عذاب نه ویریږم. ووایه چه زهٔ خو د الله

أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُۥ دِينِي ﴿١٤﴾ فَاعْبُدُوا مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِۦ قُلْ

زهٔ عبادت کوم | خالص کړے د دهٔ د پاره | خپل دین | پس تاسو عبادت کوئی | د چا چه تاسو غواړئی | له دهٔ نه سیوا | ووایه

عبادت په دے شان کوم چه خپل عبادت خالص هغهٔ په نوم ساتم نو تاسو د هغهٔ نه سیوا هر چا د چه غواړئی د هغهٔ عبادت کوئی. ووایه

إِنَّ الْخَٰسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوٓا أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ

بیشکه | زیان کاران | هغه خلق دی | چه زیان کښې واچول | خپل ځانونه | او خپل کور والا | په ورځ | د قیامت

چه تاوانیان هغه کسان دی، چه خپل ځانونه او خپله خپلخانه ئې د قیامت په ورځ تاوان کړه

أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ

واوره! | هم دا دے | هغه نقصان | ښکاره | دوئ د پاره | د دوئ د پاسه نه (هم) | سائبانونه دی

یاد ساته! چه هم دغه ښکاره تاوان دے. هغوئ له به د پورته نه هم د اور شغلې وی

مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ اللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥ يَٰعِبَادِ

د اور | او د دوئ د لاندې (هم) | سائبانونه | هم دا (خبره) د | ویروی الله له دې نه | خپل بندګان | اے زما بندګانو!

او د لاندې نه به هم د اور طبقې وی. دا هغه څیز دے چه الله تعالیٰ پرې خپل بندیان ویروی (نو) زما بندیانو!

فَاتَّقُونِ ﴿١٦﴾ وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّٰغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوٓا

وویریږئی له ما نه | او کوم خلق چه | ځان وساتی | له شیطانانو نه | چه د دوئ د عبادت وکړی د دهٔ | او رجوع ئې وکړه

زما نه ویره وکړئی. او څوک چه د شیطان د عبادت نه ځان په دې ده ساتی، او د الله تعالیٰ ته رجوع

إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ فَبَشِّرْ عِبَادِ ﴿١٧﴾ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ

الله طرف ته | دوئ د پاره | زیرے دے | پس زیرے ورکړه | زما بندګانو ته | هغه چه | آوری | خبره

کوی، هغوئ د زیری لائق دی نو زما بندیانو ته زیرے ورکړه، څوک چه خبرے ته غوږ ږدی او په ښو ښو

فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ هَدَىٰهُمُ اللَّهُ وَأُولَٰٓئِكَ هُمْ

بیا پیروی کوی | د دهٔ د ډیرو ښو خبرو | هم دا دی | هغه خلق چه | هدایت کړے د دوئ ته | الله | او هم دا خلق دی

خبرو باندې عمل کوی. هم دغه کسان دی چه الله ورته هدایت کړے دے او هم دغه کسان د عقل

أُولُوا الْأَلْبَٰبِ ﴿١٨﴾ أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ

عقل والا | پس آیا هغه کس | چه ثابته شوه | په هغهٔ باندې | کلمه د عذاب | پس آیا ته | خلاصوے ئې

خاوندان دی. آیا په چا چه د عذاب خبره ثابته شوے ده. نو آیا ته دوزخیان د عذاب

مَن فِي النَّارِ ﴿١٩﴾ لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ

هغه څوک چه | په اور کښې دی | لیکن | کوم خلق چه | ویریږی | د خپل رب نه | هغوئ د پاره | بالاخانې دی

نه خلاصولے شې؟ البته څوک چه د خپل رب نه ویریږی، هغوئ له بالاخانې مقررے دی

مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۖ وَعْدَ اللّٰهِ ۖ

د پاسه د هغې | نورے بالاخانې دي | جوړے شوے | بهيږي به | لاندې د هغې نه | نهرونه | دا وعده ده | د الله

چه د هغې نه پورته نورې بالاخانې جوړے پرتے دي چه لاندې ترے نه ولے بهيږي . دا د الله وعده ده چه

لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿٢٠﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

خلاف نه کوي | الله | له وعدے نه | آيا نه دي کتلي تا | چه هم الله | شکته را اوليږلے | له آسمان نه | اوبه

الله هيڅ وخت د وعدے خلاف نه کوي . آيا تا چرے خبره نه دي کتلي چه الله د بره نه اوبه را اورے کړے بيا ئے د

فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ

بيا ئے دننه ورننويستلے دا | روانے چينې | په زمکه کښے | بيا ئے را اوباسي له دے نه | فصل | چه مختلف دي | رنګونه د دے

زمکے د پاسه په لارو کښے ئے بهيولے ، بيا ترے نه فصلونه پيدا کوي چه د هغې قسمونه مختلف دي

ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ۚ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

بيا هغه وچيږي | بيا ته وينے هغه | زيړ شوي | بيا | ګرځي هغه | ريزه ريزه | بيشکه | په دے کښے

بيا هغه اوچ شي نو ته ئے تک زيړ وينے ، بيا دے هغه چوره چوره کړي ، په دے کښے يقيناً عقلمندو

ع ۲ / ۱۴ / ۱۶

لَذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿٢١﴾ اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ

نصيحت دے | عقل والو د پاره | آيا هغه کس | چه پرانستلے | الله | سينه د ده | د پاره د اسلام

د پاره نصيحت پروت دے . آيا الله چه د چا سينه اسلام ته پرانستے ده .

فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ

پس هغه | په رڼا کښے وي | له طرفه د رب خپل نه | پس افسوس دے | چه سخت دي | زړونه د دوي | د الله د ياد نه

نو د خپل رب په رڼا کښے روان دے (هغه او ګمراهان برابر کيدے شي ؟) نو د چا زړونه چه د الله د ياد نه اثر نه اخلي هغوي تباه دي

اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٢﴾ اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا

هم دا خلق دي | په ښکاره ګمراهۍ کښے | الله | نازل کړو | بهترين | کلام | يعني کتاب

دغه خلق په ښکاره ګمراهۍ کښے پراته دي . الله تعالی د بر ښکلے (غوره) کتاب را نازل کړے دے کتاب ئے چه

مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ

چه يو بل سره ورته دي | بيا بيا ويلے شي آيتونه ئے | چه زيګ زيګ کيږي له دے نه | څرمنے | د هغو خلقو | چه ويريږي | د خپل رب نه

مضمونونه ئے يو بل سره سم برابر . بيا بيا ويلے شوے څوک چه د خپل رب ويريږي د هغوي زړونه پرے وډرپيږي

ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ ذٰلِكَ هُدَى

بيا نرمے شي | د دوي څرمنے | او د دوي زړونه | ذکر د الله ته | هم دا دے | هدايت

نو بيا د هغوي وجودونه او زړونه د الله تعالی ياد ته متوجه شي . دا د الله تعالی هدايت دے

اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

د الله | هدايت ورکوي | په دے سره | چا ته چه | ئے وغواړي | او څوک چه ګمراه کړي | الله | پس نشته | دده ته

د چا په حقله چه غواړي نو د دے په ذريعه ورته هدايت کوي . او څوک چه الله تعالی بے لارے کړي نو هغه ته هيڅوک

مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾ اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

څوک هدایت ورکوونکے | پس آیا هغه کس | چه ځان بچ کوی | په مخ خپل سره | دَ خراب | عذاب نه | په ورځ | دَ قیامت

لار ښوونکے نهٔ شي. آیا څوک چه دَ قیامت په ورځ دَ خپل مخ په ذریعه ځان دَ سخت عذاب نه بچ کول غواړی

وَقِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ الَّذِيْنَ

او وُبه وئیلے شي | ظالمانو ته | وُڅکئ تاسو | هغه څهٔ | چه تاسو به کول. | دروغ گڼړلی وو | هغه خلقو چه

او داسے ظالمانو ته به حکم وُشي چه اوس تاسو دَ خپل عمل خوند وُڅکئ (نو آیا دوئ دَ هغه چا سره برابریدے شي چه دا نهٔ وی؟) دَ دوئ نه وړاندې هم

مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٥﴾ فَاَذَاقَهُمُ

له دوی نه وړاندې وُو | نو راغے په دوی باندې | عذاب | له هغه ځائے نه | چه دَ دوی گمان هم نه وو | پس وُڅکوله دوئ ته

خلقو (پېغمبران) دروغژن گڼړلی وو نو داسے ناڅاپی عذاب پرے راغے چه دَ هغوئ په خوا خاطر کښے هم نهٔ وو نو الله تعالیٰ هغوئ

اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا

الله | رُسوائی | په ژوند دَ دنیا کښے | او عذاب | دَ آخرت | ډیر لوئے دے | کاش! دوی

ته دَ دے دُنیا په ژوند کښے دَ ذلت مزه وُڅکوله ، او دَ آخرت عذاب خو ډیر لوئے دے کاش! که دوی

يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ

پوهیدلے | او بیشکه مونږ بیان کړل | خلقو دَ پاره | په دے قرآن کښے | دَ هر قسم

پوهیدلے. او مونږ په دے قرآن کښے خلقو ته هر قسم بنهٔ بنهٔ مضمونونه بیان کړی

مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ

مثالونه | دَ پاره دَ دے چه دوی | نصیحت حاصل کړی | قرآن | عربی | بے عیبه

دی چه نصیحت ترے نه واخلی - دا عربی قرآن دے چه دَ ذرے هومره کږلیچ په کښے نشته

لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ

بناشیری چه دوی | پرهیزګاران شي | بیان کړو | الله | یو مثال | دَ یو داسے سړی (غلام) دے | چه په کښے | ډیر شریکان دی

چه دوئ (پرے) ځانونه بچ کړی - الله تعالیٰ یو مثال بیانوی چه یو سړے دے چه څو تنه پکښے شریک دی

مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ

په خپل مینځ کښے مخالف | او یو غلام دے | سالم | دَ یو سړی | آیا | دا دواړه برابر دی | په مثال کښے

او دَ یو بل سره ضد ساتی . او یو بل سړے دے چه سالم دَ یو مالک مال دے آیا دَ دے دواړو حال یو برابر کیدے شي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ

ټول تعریف | الله دَ پاره دے | بلکه | اکثر له دوی نه | نهٔ پوهیږی | بیشکه ته (هم) | مړ کیدونکے یې | او بیشکه دوئ (هم)

ټول تعریفونه الله له دی، بلکه په دوئ کښے اکثر خلق نهٔ پوهیږی - بیشکه ته به هم مرے او دوئ به هم

مَّيِّتُوْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴿٣١﴾

مړه کیدونکی دی | بیا بیشکه تاسو به | په ورځ دَ قیامت | په نزد دَ رب خپل | دَ یو بل سره جګړه کوئ.

مری - بیا به یقیناً تاسو ټول دَ قیامت په ورځ خپله جګړے دَ الله تعالیٰ په وړاندې یوسئ.

وقف لازم

ع ١٠ / ٣ / ١٧

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعليم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ

پس څوک | زیات ظالم دے | له هغه چانه | چه دروغ ئے وتړل | په الله | او دروغ ئے وګڼله | رښتینې خبره

بیا له هغه چانه زیات ظالم څوک دے چه په الله تعالی باندې دروغ وتړی ، او هر کله چه رښتینې خبره ورته

اِذْ جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِىْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَالَّذِىْ جَآءَ

هر کله چه راغله ده ته | آیا نه دے | په دوزخ کښې | ځائے | د کافرانو | او چا چه | راوړه

راشی نو هغه دروغ وګڼړی ؟ آیا د (داسې) کافرانو هستوګنه په دوزخ کښې نه ده ؟ او څوک چه رښتینې خبره

بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿٣٣﴾ لَهُمْ مَّا

رښتینې خبره | او چا چه تصدیق وکړو د دې | هم دا دی | پرهیزګاران | دوی د پاره دی | هغه څه

راوړی او هغه رښتیا وَمنی نو بس دغه خلق پرهیزګاران دی ، د هغوئ د پاره چه هر څه

يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣٤﴾ لِيُكَفِّرَ

چه دوی ئے غواړی | د دوی د رب سره | هم دا ده | جزا | د نیکانو | د پاره د دے چه لرے کړی

وغواړی نو خپل رب سره به ئے تیار بیا موځی ، د نیکانو خلقو هم دغه بدله ده ، د پاره د دے چه الله تعالی

اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِىْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ

الله | له دوی نه | بد یانے | کومے چه | دوی کړے وے | او ورکړی الله دوی ته | اجر د دوی

د هغوئ خراب کارونه چه هغوئ وکړل د هغوئ نه لرے کړی او د نیکو کارونو

بِاَحْسَنِ الَّذِىْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٥﴾ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ

په بدله کښې د نیکو کارونو | کوم چه به | دوی کول | آیا نه دے | الله | کافی

په بدله کښې ورته پوره پوره ثواب ورکړی - آیا الله تعالی خپل (نیک) بنده له یوازے

عَبْدَهٗ ؕ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ

د خپل بنده د پاره | او دوی ویروی تا | له هغه خلقونه | چه د ده نه سیوا دی | او څوک چه | چه ګمراه کړی

کافی نه دے ؟ او (اے نبی!) دوئ تا د الله تعالی نه سیوا د نورو څیزونو نه یروی او څوک چه الله بے لارے کړی

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٣٦﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ؕ

الله | پس نشته ده د پاره | څوک لاره ښودونکے | او چا ته چه لاره وښائی | الله | پس نشته | ده د پاره | څوک ګمراه کوونکے

نو هیڅوک ئے په لاره کولے نه شی او چا ته چه الله تعالی هدایت وکړی نو هغه هیڅوک ګمراه کولے نه

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِى انْتِقَامٍ ﴿٣٧﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ

آیا نه دے | الله | غالب | انتقام اخستونکے | او که چرے | ته تپوس وکړے له دوی نه | چا

شی ، آیا الله تعالی زبردست (او) انتقام اخستونکے نه دے ؟ او که ته د دوئ نه تپوس وکړے چه اسمانونه

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلْ

پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه | نو دوی به ضرور ووائی | الله | دوا یه

او زمکه چا پیدا کړی دی ؟ نو دوئ به ووائی چه الله (پیدا کړی دی) ته ورته ووایه

أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ

پس آیا تاسو کتلی دی | هغه چا ته | چه تاسو عبادت کوئی | دَ الله نه سیوا | که چیرے | اراده وکړی ما دَ پاره | الله

چه ښه! نو دا راته وښایئ چه تاسو دَ خدائے نه بغیر دَ چا عبادت کوئی که چیرے الله تعالیٰ ما ته څه تکلیف

بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَاشِفَاتُ ضُرِّهِ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ

دَ تکلیف رارسولو | (نو) آیا دوئی | لرے کوونکی دی | دا تکلیف؟ | یا دے وغواړی ما دَ پاره | څه مهربانی

رارسول وغواړی نو آیا هغوئی دَ دهٔ (راکړے شوے) تکلیف لرے کولے شی؟ یا که خدائے ما سره (څه) مهربانی کول غواړی

هَلْ هُنَّ مُمْسِكَاتُ رَحْمَتِهِ ۚ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ

(نو) آیا | دوئی | منع کوونکی دی | دَ دهٔ مهربانی؟ | ووایه | کافی دے ما دَ پاره | الله

نو هغوئی دَ هغه مهربانی منع کولے شی؟ ته ووایه چه ماله یوازے الله تعالیٰ کافی دے

عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا

په دهٔ باندې | توکل کوی | توکل کوونکی | ووایه | اے زما قومه! | عمل کوئی تاسو

توکل کوونکی همیشه هم په دهٔ توکل کوی. ته ورته ووایه چه اے زما قومه! تاسو په خپل حالے

عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ مَن يَأْتِيهِ

په خپل ځائے | بیشکه زهٔ (هم) عمل کوونکے یم | پس ویرزر به تاسو پوهه شئ | (چه) په چا باندې | راځی

باندې لګیا اوسئ عمل کوئ زهٔ هم (په خپل ځائے باندې) عمل کوم پس ویرزر به تاسو ته معلومه شی چه په چا باندې شرموونکے

عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾ إِنَّا

عذاب | چه رسوا کړی دے | او راکوزیږی | په دهٔ باندې | عذاب | دَ همیشه | بیشکه مونږ

عذاب راتلونکے دے او څوک په تل عمری عذاب اخته کیږی؟ مونږ په تا باندې

أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۖ فَمَنِ اهْتَدَىٰ

نازل کړو | په تا باندې | دا کتاب | دَ پاره دَ خلقو | برحق | پس چا چه | لاره بیا موندله

دا کتاب دَ خلقو دَ هدایت دَ پاره په حقه نازل کړے دے، نو څوک چه په سمه لاره روان شی

فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَا أَنتَ

نو خپل ځان دَ پاره | او څوک چه | بے لارے شو | نو بیشکه | هغه ګمراه شو | خپل ځان دَ پاره | او نهٔ | یئے ته

نو ځان له ګټه کوی او څوک چه بے لارے شی نو ځان ته نقصان رسوی. او ته دَ دوئی څهٔ ذمه وار

عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾ اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا

په دوی باندې | نګهبان | الله | قبض کوی | روحونه | په وخت دَ مرګ دَ هغے

خو نهٔ یئے. هم الله تعالیٰ روحونه دَ مرګ په وخت کښے قبض کوی

وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا

او هغه (روح) | چه نهٔ مری | په خوب دَ هغے کښے | نو منع کوی | هغه چه | فیصله ئے وکړه | په هغے باندې

او چه دَ چا مرګ نهٔ وی راغلے نو دَ خوب په وخت کښے ئے قبض کړی، بیا هغه (روحونه) ایسار کړی چه دَ مرګ حکم ئے پرے

الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰىٓ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

دَ مرګ | او لیږي | هغه بل | تر وخت مقرر پورې | بیشکه | په دې کښې

نکولې وي. او باقي روحونه تر یوې مقررې نیټې پورې (پسته) راپرېږدي، بیشکه په دې کښې هغه خلقو

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

نخښې دي | دَ پاره دَ هغه قوم | چه فکر کوي | یا نیولي دي دوی | دَ الله نه سیوا

دَ پاره چه غور او فکر کوي (لوئې) نخښې دي. آیا دوی دَ الله تعالیٰ نه سیوا نور خلق (ځان لره) سفارشیان

شُفَعَآءَ ۭ قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٤٣﴾

سفارشیان ؟ | ووایه | آیا اګرکه | دوی | مالکان نه وي | دَ څه څیز | او نه عقل لري

جوړکړي دي، ته ورته ووایه اګرکه دا سفارشیان نه څه اختیار لري او نه په څه پوهېږي.

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ۭ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

ووایه | دَ الله په اختیار کښې دې | سفارش | ټول | هم دَ دهٔ دهٔ | بادشاهي | دَ اسمانونو

ته ورته ووایه چه سفارش خو ټول هم دَ الله تعالیٰ په اختیار کښې دې، دَ اسمانونو او دَ زمکې بادشاهي یوازې دَ

وَالْاَرْضِ ۭ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ

او دَ زمکې | بیا به | هم دَ دهٔ طرف ته | تاسو واپس ګرځولې شئ | او هرکله چه | یاد کړې شي | الله | یوازې

هغهٔ دَ ده، او بیا به تاسو ټول هغهٔ ته پسته ورځئ. او څهٔ وخت چه یوازې دَ یو خدائې نوم واخستې شي

اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا

نو نفرت کوي | زړونه | دَ هغه خلقو | چه ایمان نه لري | په آخرت باندې | او هرکله چه

نو دَ هغه خلقو زړونه زهیر شي چه په آخرت باندې ایمان نهٔ لري، او هرکله چه

ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٤٥﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ

ذکر کولې شي | دَ هغو چه | دَ دهٔ نه سیوا دي | نو فوراً دوی | خوشحاله شي | ووایه | اې الله!

دَ خدائې نه سیوا دَ نورو (معبودانو) ذکر کولې شي نو هغه وخت دوی خوشحاله شي. ته ووایه اې الله!

فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ

پیدا کوونکیه | دَ آسمانونو | او دَ زمکې | پوهیدونکیه | دَ پټو | او دَ ښکاره

دَ آسمانونو او دَ زمکې پیدا کوونکیه! په پټو او په ښکاره پوهیدونکیه!

اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٦﴾

هم ته به فیصله کوې | دَ خپلو بندګانو ترمینځه | په هغه څه کښې | په کوم کښې چه دوی | اختلاف کوو

هم ته به دَ خپلو بندګانو په هغه خبرو کښې په کوم کښې چه دوی جګړې کولې فیصله کوې.

وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ

او که چرې | وي هغو خلقو سره | چه ظلم ئې کړې | څهٔ چه | په زمکه کښې دي | ټول | او په شان دَ دې

او که دَ ظالمانو (مشرکانو) سره دَ دُنیا ټول مالونه موجود وي او دومره ورسره

مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَبَدَا

ده سره (نور هم) | نو دوی به ورکړي په بدل کښې | دا | د بد | عذاب نه | په ورځ | د قیامت | او ښکاره به شي

نور هم . نو د قیامت د ورځې د سخت عذاب نه د خلاصیدو د پاره به هغه ټول ورکول وغواړي ، او په دوی

لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا

دوی ته | د الله د طرف نه | هغه څه | چه دوی به د هغې ګمان نه کولو | او ښکاره به شي

باندې به د الله تعالی د طرف نه هغه (عذاب) ښکاره شي د کوم چه به ئې دوی ګمان هم نه وي . او خپل ټول

لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

دوی ته | بد پایانې | هغه چه | دوی به کوله | او راګیر به کړي دوی | هغه (عذاب) | چه دوی به هغې پورې

بد کارونه به ورته راڅرګند شي ، او په کوم څیز پورې چه به ئې خندا کولې هغه

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤٨﴾ فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ؗ

ټوقې کولې . | بیا هر کله چه | ورسیږي | انسان ته | څه تکلیف | نو دوی مونږ بلي

به ترې نه راتاؤ شي . او هغه وخت چه انسان ته تکلیف ورسیږي ، نو زمونږ بلنه کوي

ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا ۙ قَالَ اِنَّمَاۤ اُوْتِيْتُهٗ

بیا هر کله چه | مونږ ورکړو ده ته | څه نعمت | له خپل طرف نه | نو وائي | بیشکه | ماته راکړے شوې دا

بیا چه مونږ ورته د خپل طرف نه څه نعمت ورکړو ، نو وائي چه دا خو ماته په خپل علم او عقل سره

عَلٰى عِلْمٍ ؕ بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٩﴾

په پوهه | بلکه | دا | یو آزمیښت دے | او لیکن | اکثر له دوی نه | نه پوهیږي

ملاؤ شوې دي ، (نه) بلکه دا یو آزمیښت دے ، لیکن اکثر خلق (په دے خبره) نه پوهیږي .

قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَمَاۤ اَغْنٰى عَنْهُمْ

بیشکه | ویلې ده دا خبره | هغه خلقو چه | له دوی نه وړاندې وو | پس په کار را نغلل | د دوی

دا خبره هغه خلقو هم کړې وه چه مخکښې تیر شوي دي ، خو خپل کارونه د هغوی هیڅ په کار

مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٥٠﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ؕ

هغه څه | چه دوی به کول | پس ورسیدلې دوی ته | بد پایانې | د هغه څه چه دوی کړي وو

رانغلل - بلکه خپل بد عملونه پرې ټول راپریوتل

وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰۤؤُلَاۤءِ سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ

او هغه خلق چه | ظلم ئې وکړو | له دوی نه | زر به ورسیږي دوی ته | بد پایانې | د هغه څه چه دوی کړي دي

او په دوی کښې څوک چه ظالمان دي په هغوی به هم خپل بد عملونه (هرومرو) راپریوزي

وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٥١﴾ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ

او نه دي دوی | عاجزه کوونکي | آیا دوی نه پوهیږي | چه بیشکه | الله | فراخه کوي

او دوی (الله تعالی په خپلو تدبیرونو سره) عاجزه کولې نه شي . آیا دوی ته دا معلومه نه ده چه الله تعالی د چا په حقله فراخ

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

رزق | دَ پاره دَ هغه چا | چه ئې وغواړي | او تنګوي | بېشکه | په دے کښے | نخښے دي | دَ هغه قوم دَ پاره

نو روزي ورله فراخه یا لنډه تنګه کړي - په دے کښے دَ ایماندارو دَ پاره ډیرے نخښے

يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓي اَنْفُسِهِمْ

چه ایمان لري | ووایه | اے زما بندګانو! | کومو چه | زیاتے وکړو | په خپلو ځانونو باندې

پرتے دي. ته (زما دَ طرف نه خلقو ته) ووایه چه اے زما بندګانو! کومو چه په خپلو ځانونو باندې زیاتے کړے دے

لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ

مه نا اُمیده کیږئ | له رحمت نه | دَ الله | بېشکه الله | معاف کوي | ګناهونه

دَ الله تعالیٰ دَ رحمت نه مه مایوسه کیږئ. الله تعالیٰ په ستاسو ټول ګناهونه معاف

جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿٥٣﴾ وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ

ټول | بېشکه هم هغه دے | بخښونکے | مهربان | او رجوع وکړئ | دَ خپل رب طرف ته

کړي. بېشکه الله ډیر بخښونکے زیات رحم کوونکے دے. او تاسو خپل رب ته رجوع وکړئ،

وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ

او حکم منئ | دَ دهٔ | وړاندې له دے نه | چه راشي په تاسو | عذاب | بیا به

او دَ هغهٔ حکم منئ له دے نه وړاندې چه (ستاسو په غفلت) په تاسو باندې عذاب راشي. بیا به (هغه وخت)

لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿٥٤﴾ وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

مدد نهٔ شي کیدے ستاسو | او پیروي وکړئ | دَ ډیرښهٔ | هغه څهٔ | چه نازل کړے شول | ستاسو طرف ته

ستاسو مدد نهٔ شي کولے. او (اے خلقو!) دَ خپل رب (الیږلی) ښائسته حکمونو نه

مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً

ستاسو دَ رب له طرف نه | له دے نه وړاندې | چه | راشي په تاسو باندې | عذاب | ناګهانه

ومنئ، دے نه وړاندې چه په تاسو ناګهانه عذاب راشي

وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿٥٥﴾ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰي مَا

او تاسو ته | خبر هم نهٔ وي | چه وُبه وائي | نفس | هائے افسوس! | په هغه څهٔ

او تاسو پرے خبر هم نهٔ یئ. (حکم) چه چرته یو نفس دا وُ (نهٔ) وائي چه افسوس دے په هغه

فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ﴿٥٦﴾

چه ما کوتاهي وکړه | دَ الله په حق کښے | او دا چه وم زهٔ | له مسخرو کوونکو نه

کوتاهئ چه ما دَ الله تعالیٰ په حق کښے کوله او ما خو صرف ټوقے کولے.

اَوْ تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٥٧﴾

یا او به وائي چه | که چرے | الله | هدایت کړے وے ماته | نو خامخا به زهٔ وم | له پرهیزګارانو نه

یا دا به ووائي چه که الله تعالیٰ ماته هدایت کړے وے نو زهٔ به هم په پرهیزګارانو کښے شامل وم

أَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِیْ كَرَّةً

یا | وُبه واۍ | په هغه وخت کښې | چه وویني | عذاب | چه کاش ! | ما له وے | واپس تلل

یا چه عذاب وویني نو وابه وواۍ چه که زهٔ (دنیا ته) واپس لاړم نو په نیکانو

فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٨﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِىْ فَكَذَّبْتَ

چه شم زهٔ | له نیکانو خلقو نه | ولے نه | بیشکه راغلي وو تا ته | زما آیتونه | پس دروغ وګڼل تا

کښې به شامل شم ـ (الله به وفرماۍ) ولے نه ! زما آیتونه تا ته در رسیدلي وو ، مګر تا هغه دروغ

بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٩﴾ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ

هغه | او لوۍ وُکړه تا | او شوے ته | له کافرانو نه | او په ورځ | دَ قیامت به

وګڼل او تکبر دِ وکړو او په کافرانو کښې شامل پاتے شوے ـ او دَ قیامت په ورځ به ته

تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ؕ اَلَيْسَ

وویني ته | هغه خلق چه | دروغ به ئے تړل | په الله باندې | چه مخونه دَ هغوۍ به | تور شوي وي | آیا نهٔ دے

دَ هغه کسانو مخونه تک تور ووینې چه په الله تعالیٰ ئے دروغ تړل ، آیا دَ

فِىْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٦٠﴾ وَيُنَجِّى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا

په دوزخ کښې | ځائے | دَ کبرژنو | او نجات به ورکړي | الله | هغوته چه | پرهیزګاري ئے وکړه

مغرورانو ټیکاڼه په دوزخ کښې نهٔ دے ؟ او چا چه (دَ کفر او دَ ګناه نه) ځان بچ کړو الله تعالیٰ به هغوئی له

بِمَفَازَتِهِمْ ۖ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦١﴾ اَللّٰهُ

په کامیابۍ کښې دَ دوي | نهٔ به رسي دوي ته | څهٔ بدي | او نهٔ به دوي | غمژن وي | الله

په کامیابۍ سره (دَ دوزخ نه) نجات ورکړي (حالت) به نهٔ هغوۍ ته څهٔ تکلیف رسیږي او نهٔ به غمژن کیږي ـ هم الله تعالیٰ

خَالِقُ كُلِّ شَىْءٍ ۚ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿٦٢﴾ لَهٗ

پیدا کوونکے | دَ هر څیز دے | او دے | دَ هر څیز | نګهبان دے | هم دهٔ سره دي

دَ هر څیز پیدا کوونکے دے ، او هم هغه په هر څیز باندې نګران دے. دَ آسمانونو او دَ

مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

کُنجیانے | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | او هغه خلق | چه انکار ئے وکړو | دَ آیتونو دَ الله

زمکے کُنجیانے هم دَ هغهٔ په اختیار کښې دي. او څوک چه دَ الله تعالیٰ دَ آیتونو نه انکار کوي

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٣﴾ قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّىْٓ ع ٦

هم دغه خلق | نقصان موندونکي دي | ووایه | نو آیا دَ الله نه سیوا | تاسو ما ته حکم کوئ

هم هغوئی به تاوانیان پاتے شي ـ (اے پیغمبره !) ته ورته ووایه چه اے جاهلانو ! آیا تاسو بیا هم

اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ اُوْحِىَ اِلَيْكَ

چه زهٔ عبادت وکړم | اے | جاهلانو ! | او بیشکه | وحی رالیږلے شوې ده | ستا طرف ته

ما ته دَ نورو چا دَ عبادت فرمائشونه کوئ ؟ او بیشکه چه تا ته هم او ستا نه وړاندې نورو پیغمبرانو

وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ

او دَ هغه خلقو طرف ته | چه وړاندې له تا نه وو | که چرے | تا شرک وکړو | نو خامخا به برباد شي

ته هم دا وحي لیږلے شوے ده چه (اے بنیادمه!) که تا شرک وکړو نو ستا ټول عملونه به ډِ

عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٥﴾ بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ

ستا عمل | او خامخا به شے ته | له نقصان مُوندُونکو نه | (نه) بلکه | دَ الله | عبادت وکړه

عبث لاړ شي او په تاوان کښې به ډُغورزیږے ، ته خو بس یوازے دَ الله تعالیٰ عبادت کوه

وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ

او شه ته | له شکرګزارو نه | او قدر وُنه کړو دوی | دَ الله | لکه چه حق دے | دَ دهٔ دَ قدر

او (دَ هغهٔ) په شکرګزارو کښې شامل شه ، خو دے خلقو خدائے ﷻ لوئے وُنه ګڼړلو لکه چه پکار دے .

وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ

او (دا) زمکه | ټوله به | دَ دهٔ په موټی کښې وی | په ورځ دَ قیامت | او آسمانونه به | رانغښتے شوی وی

سره دَ دے چه ټوله زمکه به دَ قیامت په ورځ دَ هغهٔ په موټی کښې وی او ټول آسمانونه به دَ هغهٔ په ښی لاس

بِيَمِيْنِهٖ ۚ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَنُفِخَ

دَ دهٔ په ښی لاس کښے | دے پاک دے | او ډیر لوئے دے | له هغه څه نه | چه دوی ئے شریک جوړوی | او پُوکے به ووهلے شی

کښے رانغښتی وی ، هغه پاک دے او دَ دوی جوړ کړی شرک نه ډیر اوچت دے ، او شپیلۍ به پُوک ووهلے

فِى الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ

په شپیلۍ کښے | نو بے هوشه به شي | هر هغه څوک | چه په آسمانونو کښے دی | او هر هغه څوک | چه په زمکه کښے دی

شي نو دَ آسمانونو او زمکے ټول مخلوق به بے هوشه پریوزی ،

اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ

مګر | څوک چه وغواړی | الله | بیا به | پُوکے ووهلے شي | په دے کښے | دوېم ځل | نو ناګهانه به دوی | ولاړ وی

څو څوک چه الله (بچ ساتل) وغواړی . بیا به په دوېم ځل شپیلۍ پُوک ووهلے شي ، نو ټول به راپاڅی چه سم دم

يَّنْظُرُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ

ګوری به | او روښانه به شي | زمکه | په رڼا | دَ رب خپل | او | کیښے به ښودلے شي

به ګوری . او زمکه به دَ خپل رب په رڼا بانې روښانه شي ، او عملنامه به (مخامخ)

الْكِتٰبُ وَجِاْىٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِىَ بَيْنَهُمْ

کتاب | او رابه وستلے شي | پیغمبران | او ګواهان | او فیصله به وُکړے شي | دَ دوی ترمینځه

کیښودے شي ، او پیغمبران او (نور) ګواهان به حاضر کړے شي ، او دَ خلقو ترمینځه به په انصاف

بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

په انصاف سره | او په دوی به | ظلم نهٔ شي کولے | او پوره به ورکړے شي | هر نفس ته | هغه څهٔ چه

سره فیصله وُکړے شي او دَ ذرے هومره ظلم به پرے نهٔ کیږی . او هر سړی ته به دَ خپلو عملونو پوره پوره

عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ

چه دهٔ عمل کړے دے | او دے | ښهٔ پوهه دے | په هغهٔ | چه دوی ئے کوی | او روان به کړے شی | هغه خلق چه

بدله ورکړے شی او الله تعالیٰ ته د دوی ټول کارونه په ښهٔ شان معلوم دی - او کافران به ټولی ټولی دوزخ

كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْهَا فُتِحَتْ

کافران دی | طرف د دوزخ ته | ډلے ډلے | تر دے چه | هر کله راشی دوی هغې ته | نو پرانستے شی

طرف ته راښکلے شی ، څهٔ وخت چه دوزخ ته ورنزدے شی نو د هغې دروازے

اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ

دروازے د هغې | او وُبه وائی | دوی ته | نګهبانان د هغې | آیا نهٔ وو راغلی تاسو ته | پیغمبران

به پرانستے شی ، او د دوزخ محافظان به ورته وائی چه آیا تاسو ته د خپل قوم نه پیغمبران

مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَاۗءَ

له تاسو نه | چه لوستل به ئے | تاسو باندې | آیتونه | د رب ستاسو | او ډیرول به ئے تاسو | له ملاقات

راغلی نه وو چه د خپل رب آیتونه ئے درته آورولی وے او تاسو ئے د دے ورځے د راتلو نه

يَوْمِكُمْ هٰذَا ۭ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ

د دے ورځے ستاسو نه | دوی به ووائی | ولے نه | لیکن | ثابت شو | حکم | د عذاب

ویرولی وے ؟ هغوی به ووائی ولے نه ! خو د عذاب وعده آخر په کافرانو باندې پوره

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧١﴾ قِيْلَ ادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ

په کافرانو باندې | وُبه ویلے شی | داخل شئ | په دروازو کښے | د دوزخ | همیشه به یئ | په دے کښے

شوه - ورته به وویلے شی چه (ځئ اوس) د دوزخ په دروازو ورننوځئ همیشه به پکښے پراته یئ

فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا

بس بد | ځائے دے | د کبرژنو | او روان به کړے شی | هغه خلق چه | ویریدل به

غرض دا چه د مغرورو کسانو ټیکاؤنړه ډیره خرابه ده. او څوک چه د خپل رب (د ښیولو) نه ویریدل هغوی

رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْهَا

د خپل رب نه | جنت طرف ته | ډلے ډلے | تر دے چه | هر کله | دوی راشی هغې ته

به ټولی ټولی جنت ته روان کړے شی. څهٔ وخت چه د هغې خوا ته ورسیږی

وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ

او پرانستے شی | دروازے د هغې | او وُبه وائی | دوی ته | نګرانان د هغې | سلام دے وی | په تاسو باندې

او دروازے پرانستے شی او د هغې محافظان به ورته وائی چه په تاسو دِ سلام وی

طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ﴿٧٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ

خوشحاله شوئ تاسو | پس داخل شئ دے ته | همیشه به یئ | او دوی به وائی | ټول تعریفونه | الله د پاره دی | چا چه

تاسو ښهٔ خلق یئ پس په دے کښے همیشه د پاره ورننوځئ - هغوی به ووائی چه د الله تعالیٰ ډیر شکر دے چه موږ

صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ

رښتیا کړله موږ سره | خپله وعده | او وارثان ئې کړلو موږ ه | دَ دے زمکے | چه موږ دیره شو | په جنت کښے | کوم ځائے چه

سره ئې خپله وعده په رښتیا پوره کړه او موږ ئې دَ دے زمکے مالکان کړو چه په جنّت کښے کوم ځائے غواړو هلته به

نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ

موږ غواړو | پس ښه څهٔ ښهٔ | اجر دے | دَ عمل کوونکو | او ته به ووینې | فرښتے | راتاؤ شوے

دیره شو غرض دا چه دَ ښهٔ عمل کوونکو بدله هم ښهٔ ده . او ته به فرښتے وینې چه دَ عرش نه ګیر چاپیره به

مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ

چاپیره | دَ عرش نه | تسبیح به وائی | دَ ستائنے سره | دَ رب خپل | او فیصله به وکړے شی | دَ دوئی ترمینځه

ئې حلقه اچولے وی دَ خپل رب تسبیح او حمد به وائی او (په دغه ورځ به) دَ خلقو ترمینځه

بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٥﴾

په انصاف سره | او وُبه ویلے شی | ټول تعریفونه | الله دَ پاره دی | چه رب دے | دَ ټولو جهانونو

په انصاف سره فیصله وکړے شی او وُبه ویلے شی چه ټول تعریفونه الله دَ پاره دی چه دَ ټولو جهانونو رب دے .

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة مومن په مکه کښے نازل شوا او په | شروع کوم په نامه دَ الله چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ٨٥ آیتونه او ٩ رکوع ګانے

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٢﴾

حٰمٓ | نازل شوے دے | دا کتاب | دَ الله دَ طرف نه | چه ډیر غالب | پوهه دے .

حٰمٓ دا کتاب (یعنی قرآن) دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نازل شوے دے چه زبردست دے په هر څیز پوهه دے

غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ۙ ذِي الطَّوْلِ ۭ

بخښونکے | دَ ګناه | او | قبلوونکے | دَ توبے | سخت عذاب ورکوونکے | لوئے فضل والا

ګناه بخښونکے او توبه قبلوونکے په سزا کښے سخت او ډیر لوئے فضل والا دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿٣﴾ مَا يُجَادِلُ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ

نشته دے بل معبود | دَ دهٔ نه سیوا | هم دَ دهٔ طرف ته | واپس تلل دی | جګړه نهٔ کوی | په آیتونو کښے | دَ الله

دَ هغهٔ نه سیوا بل معبود نشته ، هم هغهٔ ته (دَ ټولو) واپس تلل دی . دَ الله تعالیٰ دَ آیتونو په باره کښے هم هغه خلق

اِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ﴿٤﴾

مګر | هغه خلق چه | کافران دی | پس دوکه در نهٔ کړی تا له | دَ دوی تلل راتلل | په ښارونو کښے

جګړے کوی کوم چه کافران دی ، نو ته په دے غلط مهٔ شے چه دوئی په ښارونو کښے (خوشحاله خوشحاله) اوری راوری

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّالْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۠ وَهَمَّتْ

دروغ ګڼلی وو | دَ دوئی نه وړاندې | قوم | دَ نوح | او نورو ډلو | پس له دوئی نه | او اراده وکړه

دَ دوئی نه وړاندې دَ نوح قوم او دَ هغوئی نه پس نورو ټولګو (پیغمبران) دروغژن وګڼل او هر امت دَ خپل

كُلُّ أُمَّةٍۭ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ وَجَٰدَلُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ
هر یو | اُمّت | خپل پیغمبر مته | چه وُنیسی هغه | او دوی جګړے کوی | دَ دروغو په خبرو
پیغمبر دَ بندی کولو اراده وکړه او بې ناحقه جګړے ئے وړته راپرسیره کړے
لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ⑤
دَ پاره دَ دې چه ناکامه کړی | په دے سره | حق | پس ما وُنیول هغوئی | نو څنګه | وو | زما عذاب
چه په دې سره (دین دَ) حق ناکامه کړی نو ما هغوئی راوُنیول نو ګوره څنګه غټه سزا م ورکړه۔
وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّهُمْ
او دغه شان | ثابته شوه | خبره | ستا دَ رب | په هغه خلقو چه | کافران دی | بیشکه هم دوی
او دغه شان ستا دَ رب خبره په کافرانو باندې ثابته شوه چه هغوئی
أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ⑥ ٱلَّذِينَ يَحْمِلُونَ ٱلْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُۥ
دوزخیان دی | کوم (فرښتې) چه | اُوچت کړے دے | عرش | او کومے چه | دَ دے نه ګیرچاپیره دی
دوزخیان دی۔ او هغه فرښتے چه عرش ئے اُوچت کړے دے او کومے چه ترے نه ګیرچاپیره دی
يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ
دوی تسبیح وائی | دَ خپل رب په ستائنے سره | او ایمان راوړی | په دهٔ | او بخښنه غواړی | دَ هغه خلقو دَ پاره
هغوئی ټول دَ خپل رب تسبیح او تعریف بیانوی او په هغهٔ ایمان راوړی او دَ مؤمنانو په حقله (داسے) بخښنه
ءَامَنُوا۟ ۚ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَىْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَٱغْفِرْ
چه مؤمنان دی | چه اے زمونږه ربه! | او تا احاطه کړے دی | دَ هر څیز | په خپل رحمت | او علم سره | پس معاف کړه
غواړی چه اے زمونږه ربه! ستا رحمت او ستا علم په هر څهٔ باندې راخور شوے دے، نو چا چه توبه وُکړه
لِلَّذِينَ تَابُوا۟ وَٱتَّبَعُوا۟ سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ
هغه کومو چه | توبه وکړه | او پیروی ئے وکړه | ستا دَ لارے | او بچ کړه دوی | له عذاب
او ستا په لار روان دی هغوئی وُبخښه، او دَ دوزخ دَ عذاب نه
ٱلْجَحِيمِ ⑦ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّٰتِ عَدْنٍ ٱلَّتِى
دَ دوزخ نه | اے زمونږه ربه! | او داخل کړه دوی | په باغونو کښے | دَ همیشه اُوسیدو | هغه دَ کومو چه
ئے بچ کړه، اے زمونږه ربه! ته هغوئی دَ همیشه اوسیدو په باغونو کښے ورننباسه، دَ کومو چه
وَعَدتَّهُمْ وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ ۚ
تا وعده کړے ده دَ دوی سره | او هغه څوک (هم) | چه صالحان دی | له پلارانو دَ دوی نه | او له بیبیانو دَ دوی نه | او له اولاد دَ دوی نه
ورسره تا وعده کړے ده او هغه هم چه دَ هغوئی په پلارانو، بیبیانو او اولاد کښے صالحان دی
إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ⑧ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ وَمَن
بیشکه ته | ډیر زبردست | حکمت والا یئے | او وُساته دوی | له تکلیفونو نه | او هغه څوک چه
بیشکه چه ته زبردست یئے دَ حکمت خاوند یئے او هغوئی دَ هر قسم تکلیفونو نه محفوظ وُساته او تا چه په دغه

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ

ؤساتلې تا | له تکليفونو نه | په دغه ورځ | نو بيشکه | تا په هغهٔ رحم وکړو | او هم دا ده

ورځ څوک د تکليف نه بچ ؤساتلو نو هغهٔ سره دِ غټه مهرباني ؤکړه او دا ويره لويه

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ

کاميابي | لويه | بيشکه | کوم خلق | چه کافران دي | دوئ ته به آواز وکړے شي | چه ناراضګي

کاميابي ده. بيشکه کومو خلقو چه کفر وکړو هغوئ ته به دا آواز ورکولے شي چه لکه څنګه

اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ

د الله | زياته لويه ده | ستاسو له ناراضګئ نه | په خپل ځان باندې | هرکله چه به | تاسو بللے شوئ | د ايمان طرف ته

(نن) ستاسو د ځان نه نفرت دے د دې نه زيات نفرت به درته خدائے کولو چه تاسو به ايمان ته رابللے شوئ او تاسو به

فَتَكْفُرُوْنَ ﴿١٠﴾ قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَ اَحْيَيْتَنَا

نو تاسو به انکار کولو | دوئ به وائي | اے زمونږه ربه! | تا مرګ راکړو مونږ ته | دوه ځله | او | ژوندي کړو تا مونږ

انکار کولو. هغوئ به وائي چه اے زمونږه ربه! مونږ دِ دوه ځله مړهٔ ؤساتلو او دوه ځله دِ راژوندي

اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿١١﴾

دوه ځله | پس اقرار وکړو مونږ | په خپلو ګناهونو | پس آيا | بهر ته د راوتلو | څه لار (شته دے)؟

کړو، نو اوس مونږ د خپلو خطاګانو اقرار کوو، نو آيا اوس (د دے عذاب نه د بچ) وتلو څهٔ لار شته؟

ذٰلِكُمْ بِاَنَّهٗٓ اِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ وَاِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ

دا په تاسو | حکم دے چه | هرکله به | بللے شو | الله | يو | نو تاسو به انکار کولو | او که چرے شرک به کړے شو د هغهٔ سره

دا حکم (سزا درکولے شي) چه کله صرف د الله تعالیٰ نوم به اخستے شو نو تاسو به ترے نه انکار کولو او که څوک به ورسره شريکولے

تُؤْمِنُوْا ؕ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ﴿١٢﴾ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمْ

نو منلو به تاسو | پس حکم (خو) | هم د الله دے | چه ډير لوئے | اوچت مرتبے والا دے | دے هغه ذات دے | چه ښائي تاسو ته

شو نو بيا به مو منلو نو اوس دا د الله تعالیٰ فيصله ده چه ډير لوئے دے او د اوچتې مرتبې خاوند دے. الله هغه ذات دے چه تاسو ته

اٰيٰتِهٖ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ وَمَا يَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ

خپلې نخښې | او نازلوي | تاسو د پاره | له آسمان نه | رزق | او نصيحت نه قبلوي | مګر هغه څوک

خپلې نخښې ښائي، او د ېره نه درله روزي رالېږي، او نصيحت خو بس هغه څوک قبلوي

يُّنِيْبُ ﴿١٣﴾ فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ

چه رجوع کوي | پس ياد کړئ | الله | خالص کونکے | د دهٔ د پاره | عبادت | اګر که | نه خوښوي

چه الله ته رجوع کوي، نو تاسو په سمه سوچه عقيده باندې خدائے ته دعا کوئ اګر که په کافرانو

الْكٰفِرُوْنَ ﴿١٤﴾ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ يُلْقِي الرُّوْحَ

کافران | (دے) اوچتو | درجو والا | د عرش مالک دے | اچوي | روح

بده لګي. هغه د مرتبو اوچتونکے دے. د عرش مالک دے. هغه چه په خپلو بندګانو کښے

مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿١٥﴾

په خپل حکم سره | په چا چه | دے غواړی | له خپلو بندګانو نه | د پاره دَدے چه ووېروی | له ورځے دَ ملاقات نه

په چا دَ غواړی نو په هغهٔ باندے خپل حکم راولیږی چه هغه (خلق) دَ ملاقات (دَ حشر) دَ ورځے نه ووېروی

يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ؕ لِمَنِ

په کومه ورځ چه به دوی | ښکاره راوځی | پټه به نه وی | په الله باندے | دَ دوی | (څه) څیز | چا دَ پاره

په کومه ورځ چه به ټول خلق (له قبرونو نه) ښکاره راوځی ، دَ الله تعالٰی نه به دَ دوی هیڅ خبره پټه نه وی ـ (تپوس به کولے شی)

الْمُلْكُ الْيَوْمَ ؕ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿١٦﴾ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ

حکومت دے | نن ورځ | الله دَ پاره دے | چه یو واحد دے | ډیر غالب دے | نن ورځ به | بدله ورکولے شی | هر

نن ورځ دَ چا حکومت دے ؟ بس صرف دَ الله حکومت دے چه یو دے (او) غالب دے ـ نن به هر سړی ته دَ خپل

نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ؕ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

نفس ته | دَ هغه څهٔ چه | دهٔ کړی دی | نشته دے هیڅ ظلم | نن ورځ | بیشکه | الله | ډیر زر

عمل بدله ورکړے شی ، (او په چا باندے به) نن هیڅ زیاتے نهٔ کیږی ، یقیناً الله تعالٰی ډیر زر حساب

الْحِسَابِ ﴿١٧﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ

حساب اخستونکے دے | او ووېروه دوی | دَ ورځے دَ نزدے راتلونکے نه | هر کله چه به زړونه | تر خولے راشی

اخستونکے دے ـ او (اے پیغمبره! ته) دوی دَ نزدے راتلونکے ورځے دَ مصیبت نه ووېروه چه زړونه به تر خولے راشی

كٰظِمِيْنَ ؕ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ ﴿١٨﴾

دَ غم په وجه | نه به وی | دَ ظالمانو | څوک دوست | او نهٔ څوک سفارشی | چه دَ دهٔ خبره ومنلے شی

او ساه ګټلے به (دَ غم نه) ناسته ګے شی او (په دغه ورځ به) دَ ظالمانو نهٔ څوک دوست وی او نهٔ څوک سفارشی چه دَ هغهٔ خبره ومنلے شی

يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿١٩﴾ وَاللّٰهُ

خبر دے | په خیانت | دَ سترګو | او په هغهٔ | چه پټوی ئے | سینے | او الله به

الله تعالٰی دَ سترګو په غلا او دَ زړونو په پټو رازونو ښهٔ پوهه دے ـ او الله تعالٰی به

يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ

فیصله وکړی | په انصاف سره | او هغه چه | دوی ئے بلی | دَ دهٔ نه سیوا | دوی فیصله نهٔ شی کولے

په انصاف سره فیصله وکړی ، او دوی چه دَ هغهٔ نه سیوا دَ نور چا بلنه کوی نو هغوی هیڅ فیصله

بِشَيْءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٢٠﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا

دَ هیڅ څیز | بیشکه | الله | هم دے دے | آورېدونکے | لیدونکے | آیا دوی نهٔ دی ګرځیدلی

نهٔ شی کولے ، یقیناً الله تعالٰی هر څهٔ وینی (او) آوری ـ آیا دا خلق په زمکه کښے

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا

په زمکه کښے | چه دوی وګوری | چه څنګه | شو | انجام | دَ هغو خلقو چه | وو

ګرځیدلی نهٔ دی چه دَ دوی نه دَ مخوا خلقو (چه دَ حق نه منکر وو) انجام وګوری

ع

مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوْا هُمْ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ

وړاندې له دوی نه | ؤو هغوی | زیات سخت | له دوی نه | په طاقت کښې | او په نخښو کښې | په زمکه کښې

څه شو ؟ هغوی د دوی نه په طاقت کښې او د زمکې په مخ په نخښو پریښودلو کښې زیات ؤو

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۚ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ

پس ونیول هغوی | الله | په ګناهونو د هغوی | او نهٔ وو | هغوی د پاره | د الله نه | هیڅوک

نو الله تعالیٰ په خپلو ګناهونو کښې را ونیول ، او هیڅوک د الله تعالیٰ (د عذاب) نه بچ نهٔ

وَّاقٍ ﴿۲۱﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا

بچ کوونکے | دا | ځکه چه | راتلل به هغوی ته | پیغمبران د هغوی | په نخښو سره | نو هغوی به انکار کولو

کړل ۔ دا ځکه چه هغوی ته به خپلو پیغمبرانو څرګندې نخښې راوړلې خو هغوی به ترې نه انکار کولو

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ۗ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

پس ونیول هغوی لره | الله | بیشکه هغه | توانا | سخت عذاب ورکوونکے دے | او بیشکه رالیږلے وو موږ

نو الله تعالیٰ راونیول یقیناً هغه ډیر قوی دے سخت عذاب ورکوونکے دے ، او موږ موسیٰؑ د

مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۳﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ

موسیٰؑ | په خپلو نخښو سره | او په دلیل | ښکاره سره | طرف د فرعون | او هامان

خپلو نخښو او د څرګند دلیل سره ولیږلو ۔ (یعنی موږ دوی) فرعون، هامان او قارون ته (پیغام د حق

وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ

او قارون ته | نو دوی ووئیل | جادوګر دے | غټ دروغژن | بیا هر کله | چه د راغے دوی ته | په حق دین سره

سره ولیږلو) نو هغوی ووئیل چه دا جادوګر دے غټ دروغژن دے ۔ نو څهٔ وخت چه موسیٰؑ زموږ د طرف نه حق دین

مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْۤا اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

زموږ له طرف نه | نو دوی ووئیل | ووژنئ | خامن | د هغه خلقو | چه ایمان ئې راوړے دے | د ده سره

راوړو ، نو هغوی ووئیل چه کوم خلقو د ده سره (په الله باندې) ایمان راوړے دے د هغوی خامن ووژنئ

وَاسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ۗ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾

او ژوندی پریږدئ | ښځې د دوی | او نهٔ دے | تدبیر | د کافرانو | مګر | ناکام

او لونړه ئې ژوندئ پریږدئ ، او د کافرانو تدبیر بے اثره لاړو ۔

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْۤ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْۤ

او ووئیل | فرعون | ما پریږدئ | چه زهٔ ووژنم | موسیٰؑ | او دے دې راوغواړي | خپل رب | بیشکه زهٔ

او فرعون ووئیل چه ما پریږدئ چه موسیٰؑ ووژنم او بیا دې هغه خپل رب (مدد له) راوغواړي ، ما سره

اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ فِي الْاَرْضِ

ویریږم | چه | دے به بدل کړي | دین ستاسو | یا دا چه | دے به ښکاره کړي | په زمکه کښې

دا فکر دے چه ستاسو دین به بدل کړي یا به په ملک کښې (بل څهٔ) خرابي

الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾ وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم

فساد | او وویل | موسیٰ | (چه) بیشکه ما پناه اخستې ده | د خپل رب | او ستاسو د رب سره

راپیدا کړي. موسیٰ وویل ، چه زه د خپل رب او ستاسو د رب پناه غواړم

مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۷﴾ وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ

د هر | کبرژن نه | چه ایمان نه لري | په ورځې | د حساب | او وویل | یو سړي | ایماندار

د هر متکبر نه چه د حساب په ورځ باور نه لري او د فرعون د قوم یو مؤمن

مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُۥٓ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ

له قوم د فرعون نه | چه پټولو ئے | خپل ایمان | آیا تاسو وژنئ | داسې سړے | چه دا وائي

سړي وویل چه خپل ایمان به ئے پټ ساتلو آیا تاسو یو داسې سړے وژنئ چه هغه وائي

رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَآءَكُم بِالْبَيِّنَٰتِ مِن رَّبِّكُمْ ۖ وَإِن يَكُ

چه زما رب | الله دے | او بیشکه دے راوړې دي تاسو ته | (روښانه) دلیلونه | ستاسو د رب له طرف نه | او که چرے دے وي

چه زما رب الله دے او تاسو د پاره ئے د خپل رب له طرف نه څرګند دلیلونه راوړي دي او که چرے دے

كَٰذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُۥ ۖ وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ

دروغژن | نو هم په ده دے | (وبال) د ده د دروغو | او که چرې وي دے | رښتینے | نو وبه رسیږي تاسو ته | (څه نا) څه

دروغژن وي نو د ده د دروغو (وبال) به هم په ده پریوځي او که رښتینے وي نو د هغه څه پیشګوئي به در باندې

الَّذِي يَعِدُكُمْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ

هغه (عذاب) د کوم چه | دے وعده کوي تاسو سره | بیشکه الله | لاره نه ښائي | هغه چا ته چه | هغه حد نه تیریدونکے

در پریوزي ، الله تعالیٰ هغه څوک په سمه لاره نه بوځي چه د حد نه تیریدونکے

كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ يَٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَٰهِرِينَ فِي الْأَرْضِ

دروغژن وي | اے زما قومه ! | ستاسو | بادشاهي ده | نن ورځ | غالب یئ | په زمکه کښې

او غټ دروغژن وي. اے زما ورونړو ! نن خو بادشاهي ستاسو ده چه په دې ملک کښې حاکمان یئ

فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأْسِ اللَّهِ إِن جَآءَنَا ۚ قَالَ فِرْعَوْنُ

پس څوک به | مدد وکړي زمونږ | له عذاب | د الله نه | که چرې هغه راشي مونږ ته | وویل | فرعون

نو که د الله تعالیٰ عذاب راشي نو څوک به مونږ د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ کړي؟ فرعون وویل

مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ

زه نه ښایم تاسو ته | مګر | هغه څه | چه زه ئے خپله ګورم | او زه لاره نه ښایم تاسو ته | مګر | لاره

زه خو بس تاسو ته هغه رائے درکوم کومه چه ماته (په رښتیا سمه) ښکاري او یواځې لاره نه خو فقط د مصلحت د

الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُم

د راستي | او وویل | هغه کس چه | ایمان ئے راوړے وو | اے زما قومه ! | بیشکه زه ویریږم | په تاسو

لارې درته ښایم. او کوم سړي چه ایمان راوړے وو هغه وویل چه اے ورونړو ! ما سره اندیښنه ده چه د

مِّثْلَ يَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَاْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ

دَ مثل | دَ ورځو | دَ جماعتونو ډلګو | په شان | دَ عادت دَ حال | دَ قوم | دَ نوح | او دَ عاد | او دَ ثمود

استونو غونډو بدو ورځو دربانډې راتله شي. چه دَ قوم دَ نوح او دَ عاد او دَ ثمود او دَ هغوی نه دَ

وَالَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيٰقَوْمِ

او دَ هغو خلقو چه | وروستو له دوی نه وُو | او الله نهٔ غواړی | ظلم کول | (په خپلو) بندګانو باندې | او اے زما قومه!

وروستنو خلقو غونډې چل درسره وشي. او الله په خپلو بندګانو باندې دَ ذرے هومره ظلم کول نهٔ غواړی. او اے زما قومه!

اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ﴿٣٢﴾ يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ

بیشکه زهٔ | ویریږم | په تاسو باندې | دَ ورځے دَ چغونه | په کومه ورځ چه به | تاسو تښتئ | شا اړخ ته

ما سره دَ چغو دَ ورځے اندیښنه ده ، په کومه ورځ چه تاسو به شا اړخ ته تښتئ.

مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

نهٔ به وی تاسو لپاره | دَ الله نه | څوک بچ کوونکے | او څوک چه | بے لارے کړی | الله | پس نشته دهٔ لپاره

هیڅوک به مو دَ الله دَ نیولو نه بچ کوونکے نهٔ وی ، او څوک چه الله بے لارے کړی ، نو هغه هیڅوک

مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ

څوک لاره ښوودونکے | او بیشکه راغلے وو تاسو ته | یوسف (علیه السلام) | له دے نه وړاندې | په واضحه نخښو سره | پس همیشه وئ تاسو

په لاره کولے نهٔ شي. او له دے نه وړاندې تاسو ته یوسف ښکاره دلیلونه راوړی وو ، نو تاسو دَ هغهٔ دَ

فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰٓى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ

په شک کښے | له هغه څهٔ نه | چه دهٔ راوړلے وو تاسو ته | تر دے چه | هر کله دَ مړ شو | (نو) تاسو وویل

راوړو خبرو په حقله هم برابر شکمن یئ ، تر دے چه هغه مړ شو نو تاسو ووئیل

لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ

هیڅ کله به رانهٔ لیږی | الله | پس له دهٔ نه | پیغمبر | دغه شان | ګمراه کوی | الله | هغه څوک چه وی

چه اوس به الله تعالیٰ بل پیغمبر نهٔ رالیږی ، دغه شان الله تعالیٰ حد نه تیریدونکی شک کوونکی

مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ۚ ﴿٣٤﴾ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ

له حده تیریدونکے | شک کوونکے | کوم خلق چه | جګړے کوی | دَ الله په آیتونو کښے | بغیر

خلق دَ هدایت نه محروم ساتی. کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ په آیتونو کښے بغیر دَ څهٔ دلیل نه چه هغوی

سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ

دَ څهٔ دلیل نه | چه راغلے وی دوی ته | ډیره | ناخوښه ده | په نزد دَ الله | او په نزد | دَ هغه خلقو چه

ته راغلے وی جګړے کوی (دا) دَ الله تعالیٰ او دَ مؤمنانو په نزد ډیر ناخوښه

اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾

ایمان ئے راوړے دے | دغه شان | مهر لګوی | الله | په هر زړهٔ | دَ کبرژن | سرکشه

خبره ده دغه شان الله تعالیٰ دَ هر مغرور جابره بنده په زړهٔ باندې مهر لګوی

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ

او وویل | فرعون | اے هامانه! | جوړ کړه | ماد پاره | یو محل | د پاره د دے چه زهٔ | ورسېم

او فرعون وویل چه اے هامانه! ماله یو اوچته ماڼۍ جوړه کړه، شاید زهٔ (په دې بانې په ختو سره هغه)

الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّيْ

لارو ته | چه لارے دی | د آسمانونو | چه وګورم | طرف د معبود د موسیٰ ته | او بیشکه زهٔ

لارو ته ورسېم (چه) د آسمان لارو سره (ملاویږی) ، بیا د موسیٰ خدائے له ووینم او زهٔ خو دا

لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ

ګمان کوم په ده | د دروغژن | او دغه شان | بناسته معلوم شو | فرعون ته | بد | عمل د ده | او دے منع کړے شو

موسیٰ دروغژن ګڼړم ، او دغه شان فرعون ته خپل بد کارونه ښائسته ښکاریدل او د سمے لارے

عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾ وَقَالَ الَّذِيْٓ

له (سمے) لارے نه | او نهٔ وو | تدبیر | د فرعون | مګر | په تباهئ کښے | او وویل | هغه سړی چه

نه لارے محرومه وو ، او د فرعون هر یو تدبیر برباد لاړو ۔ او کوم سړی چه ایمان راوړے وو

اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ يٰقَوْمِ

ایمان ئے راوړے وو | اے زما قومه! | تاسو پیروی وکړئ زما | زهٔ به وښایم تاسو ته | لاره | د راستئ | اے زما قومه!

هغهٔ وویل چه اے زما قومه! تاسو زما په لاره روان شئ، زهٔ به تاسو ته د نیکئ لاره وښایم ۔ اے زما قومه!

اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ؗ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾

بیشکه | دا | ژوند | د دنیا | (عارضی) فائده ده | او یقیناً | آخرت | هم دا د آرام کور دے

دا د دنیا ژوند خو محض د یو څو ورځو مزے چرچے دی او د استوګنے اصل ځائے خو آخرت دے

مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ

چا چه | عمل وکړو | بد | نو بدله به نهٔ شی ورکولے ده ته | مګر | هم د هغے برابر | او چا چه | عمل وکړو

څوک چه ګناه کوی نو هغهٔ ته به خپله پوره بدله ورکیدے شی ، او چا چه نیک عمل

صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ

نیک | هغه سړے وی | یا ښځه | او هغه | مؤمن وی | نو هم داخلق دی | چه داخلیږی به

وکړو سړے وی او که ښځه او هغه صاحبِ ایمان (هم) وی نو جنت ته به

الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾ وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ

جنت ته | رزق به ورکولے شی دوی ته | په دے کښے | بے حسابه | او اے زما قومه! | څهٔ خبره ده

ورننوځی او هلته به هغوئ ته بے حسابه رزق ورکولے شی ۔ او (هغه وویل) اے زما قومه! دا څهٔ چل

اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾

چه زهٔ راغواړم تاسو | د نجات طرف ته | او تاسو راغواړئ ما | د دوزخ طرف ته

دے چه زهٔ خو تاسو د نجات طرف ته راغواړم ، او تاسو ما دوزخ طرف ته رابلئ ۔

تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ

تاسو خو ما بلئ | چه زۀ انکار وکړم | د الله | او شریک ورسره کړم | د ده سره | هغه څۀ | د کوم په نشته ما ته | څۀ علم

تاسو ما ته دې خبرې ته بلنه راکوئ چه د الله نه انکار وکړم او داسې څیزونه ورسره شریک کړم چه ما سره د هغې په حقله هیڅ دلیل نشته

وَأَنَا أَدْعُوكُمْ إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ ﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا

او زۀ | بلم تاسو | طرف د ډیر زبردست | بخښونکی ته | هیڅ شک نشته | چه بیشکه هغه څیز

او زۀ تاسو د غالب (او) بخښونکی خدائے طرف ته رابلم. دا مطلب خبره ده چه تاسو ما کوم

تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ

چه تاسو ما بلئ طرف د هغې ته | نۀ خو هغه | بللے شي | په دنیا کښې | او نۀ | په آخرت کښې

څیز ته رابلئ هغه نۀ په دُنیا کښې او نۀ په آخرت کښې د بللو لائق دے

وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٤٣﴾

او دا چه | مونږ له واپس تلل دي | د الله طرف ته | او دا چه | له حده تیرېدونکي | هم دوی دي | دوزخیان.

او مونږ ټول به د الله طرف ته بېرته ورځو او څوک چه د حد نه وړاندې تیرېږي هغه ټول دوزخیان دي

فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ ۚ وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ ۚ

پس زر به تاسو یاد کړئ | هغه څۀ | چه زۀ وایم | تاسو ته | او زۀ سپارم | خپله معامله | الله ته

پس هغه وخت لرې نۀ دے چه زما خبرې به رایاد دوئ، او زۀ خپله معامله الله تعالیٰ ته سپارم

إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴿٤٤﴾ فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا

بیشکه الله | کورې | بندګانو ته | پس بچ کړو دے | الله | له شر نه | د هغه تدبیر چه دوی کړے وو

بیشکه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته وینې کورې، نو الله تعالیٰ هغه (مؤمن) د دوئ د مکرونو فریبونو نه بچ وساتلو

وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ ﴿٤٥﴾ النَّارُ يُعْرَضُونَ

او راګیر کړل | فرعونیانو لره | خراب | عذاب | هغه اُور دے | چه پیش کولے شي دوی

او د فرعونیانو نه خراب عذاب راتاؤ شو. هغوئ صبا او ماښام

عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا

د هغې په مخکښې | صبا | او ماښام | او په کومه ورځ چه به | قائم شي | قیامت | (حکم به وشي) داخل کړئ

دوزخ ته وړاندې کولے شي او په کومه ورځ چه قیامت قائم شي (نو حکم به وشي چه) د فرعون

آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿٤٦﴾ وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ

فرعونیان | په ډیر سخت | عذاب کښې | او هر کله چه | دوی به جګړه کوي | په اُور کښې

ملګري سخت عذاب ته ورننباسئ. او څۀ وخت چه دوئ په دوزخ کښې د یو بل سره جګړے کوي

فَيَقُولُ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا

پس وائي به | کمزوري خلق | هغه خلقو ته | چه کبر به ئې کولو | چه بیشکه مونږ وو | ستاسو | تابع

نو کمزوري کسان به د مرتبو خاوندانو ته وائي چه مونږ خو ستاسو پیروي کوله

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ الَّذِيْنَ

پس آیا | تاسو یه | لرے کوئ | له موږ نه | څه حصه | دَ اور | وُبه وائی | هغه خلق چه

نو آیا اوس موږ نه څهٔ لږ ډیر عذاب کمولے شئ ؟ غټان خلق به ورته

اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ ۙ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿٤٨﴾

تکبر به ئے کولو | چه بیشکه موږ | ټول | په دے کښے یو | بیشکه الله | فیصله کړے ده | دَ بندګانو ترمینځه

ووائی چه اوس خو په کښے ټول دَ سیلے پراته یُو، الله تعالیٰ دَ خپلو بندګانو ترمینځه قطعی فیصله کړے ده

وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ

او وُبه وائی | هغه خلق چه | په اور کښے (وی) | نګهبانانو | دَ دوزخ ته | چه دُعا وکړئ | خپل رب ته

او څوک چه په دوزخ کښے پراته وی هغوی به دَ دوزخ څوکیدارانو فرښتو ته ووائی چه تاسو خپل رب ته دُعا وکړئ

يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ

چه کم کړی | له موږ نه | یوه ورځ | څهٔ عذاب | وُبه وائی (نګهبانان) | آیا نهٔ راتلل تاسو ته

چه زمونږ ورځ نیمه خو څهٔ عذاب کم کړی. فرښتے به ورته جواب ورکړی آیا تاسو ته پیغمبرانو څرګندے

رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۭ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا

پیغمبران ستاسو | دَ واضحو نخښو سره | دوی به ووائی | ولے نه | دوی به ووائی | پس دُعا وکړئ | او نهٔ ده دُعا

نخښے نهٔ وے راوړے ؟ هغوی به اقرار وکړی چه هو! راوړے خو ئے. (فرښتے) به ووائی بیا هم تاسو دُعا وکړئ او (یاد ساتئ

الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾ؑ اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ ركوع ٥

دَ کافرانو | مګر | په تباهئ کښے | بیشکه موږ | خامخا مدد ورکوو | خپلو پیغمبرانو ته | او هغه کسانو ته

چه) دَ کافرانو دعا خو همیشه بے اثره پاتے وی. موږ دَ خپلو پیغمبرانو او دَ ایماندارو کسانو

اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ ﴿٥١﴾ۙ يَوْمَ

چه ایمان ئے راوړو | په ژوند دَ دُنیا کښے | او په کومه ورځ چه به | وُدریږی | ګواهان | په کومه ورځ چه به

امداد کوو، هم په دنیا کښے او هم په هغه ورځ چه خلق به ګواهئ له راپاڅی، په کومه ورځ

لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ

نفع نهٔ ورکوی | ظالمانو ته | عُذر دَ دوی | او دوی دَ پاره | لعنت دے | او دوی دَ پاره

چه ظالمانو له به عذر معذرت هیڅ فائده نهٔ ورکوی او په لعنت به ګرفتار وی، او هغوی

سُوْۗءُ الدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى وَاَوْرَثْنَا

خراب کور دے | او بیشکه موږ ورکړو | موسیٰؑ ته | هدایت | او | وارثان کړل موږ

دَ پاره به (دَ دوزخ) ډیر خراب کور وی. او بیشکه موږ موسیٰؑ ته (کتاب دَ) هدایت ورکړو او بنی اسرائیل مو دَ

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿٥٣﴾ۙ هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾

بنی اسرائیل | دَ کتاب | چه هدایت | او نصیحت وو | عقل مندو دَ پاره

دے کتاب وارثان جوړ کړل، چه عقلمندو دَ پاره هدایت او نصیحت وو.

فَاصۡبِرۡ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۡۢبِكَ وَسَبِّحۡ

پس صبر کوه | بیشکه | وعده | دَ الله | رښتینې ده | او معافي غواړه | دَ خپل ګناه | او پاکي بیانوه

نو ته صبر کوه ، بیشکه دَ الله تعالیٰ وعده رښتینې ده او دَ خپلو کوتاهئ (دَ الله نه) معافي وغواړه ، او صبا

بِحَمۡدِ رَبِّكَ بِالۡعَشِيِّ وَالۡاِبۡكَارِ ۝۵۵ اِنَّ الَّذِيۡنَ يُجَادِلُوۡنَ

ستائنه دَ رب خپل | ماښام | او صبا | بیشکه | کوم خلق چه | جګړې کوي

او ماښام دَ خپل رب پاکي بیانوه او دَ هغهٔ تعریفونه کوه . څوک چه بغیر دَ څهٔ سند نه دَ الله تعالیٰ دَ ایتونو

فِيۡۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيۡرِ سُلۡطٰنٍ اَتٰىهُمۡ ۙ اِنۡ فِيۡ صُدُوۡرِهِمۡ

دَ الله په ایتونو کښې | بغیر | دَ (څهٔ) دلیل نه | چه راغلې وي دوی ته | نشته | دَ دوئ په زړونو کښې

په حقله جګړې کوي ، کوم چه دوئ ته (دَ الله دَ طرف نه) رارسیدلې وي ، دَ هغوئ په زړونو کښې نورڅهٔ نشته خو تشه

اِلَّا كِبۡرٌ مَّا هُمۡ بِبَالِغِيۡهِ ۚ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيۡعُ

مګر غرور | نهٔ دي دوئ | رسیدونکي هغې ته | پس پناه غواړه | دَ الله | بیشکه هم دے دے | اوریدونکے

لوئي پرته ده خو هغوئ دې لوئې ته (په رښتیا) هیڅکله رسیدونکي نهٔ دي نو ته دَ الله پناه غواړه ، هغه هرڅهٔ اوري هرڅهٔ ویني

الۡبَصِيۡرُ ۝۵۶ لَخَلۡقُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ اَكۡبَرُ مِنۡ خَلۡقِ النَّاسِ

لیدونکے | یقیناً پیدا وښت | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | ډیر لوئے دے | له پیدا وښت دَ خلقونه

ګوري - دا ښکاره خبره ده چه دَ آسمانونو او دَ زمکے پیدا وښت دَ بنیادمو دَ پیدا کولو نه زیات غټ کار دے

وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ۝۵۷ وَمَا يَسۡتَوِى الۡاَعۡمٰى

او لیکن | اکثر خلق | نهٔ | پوهیږي | او نهٔ دي برابر | ړوند

خو اکثر خلق په دے نهٔ پوهیږي ، او ړوند او بینا یو برابر کیدے

وَالۡبَصِيۡرُ ۙ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الۡمُسِىۡٓءُ ؕ

او بینا | او کوم خلق چه | ایمان راوړو | او عمل ئې وکړو | نیک | (هغوئ) او بد کار (برابر) نهٔ دي

نهٔ شي او نه صاحب ایمان نیکو کار او بد کار (برابر کیدے شي)

قَلِيۡلًا مَّا تَتَذَكَّرُوۡنَ ۝۵۸ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيۡبَ فِيۡهَا

ډیر لږ | تاسو نصیحت قبلوئ | بیشکه | قیامت | راتلونکے دے | هیڅ شک نشته | په دے کښې

خو تاسو خلق ډیر کم نصیحت قبلوئ . قیامت خو به خامخا راځي په دے کښې هیڅ شک نشته

وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝۵۹ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادۡعُوۡنِىۡۤ

او لیکن | اکثر | خلق | ایمان نهٔ راوړي | او وفرمائیل | ستاسو رب | دُعا کوئ

خو اکثر خلق دا خبره نه مني - او ستاسو رب فرمائیلي دي چه ماته دُعا کوئ

اَسۡتَجِبۡ لَـكُمۡ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَسۡتَكۡبِرُوۡنَ عَنۡ عِبَادَتِىۡ

چه قبوله کړم | ستاسو (دُعا) | بیشکه | کوم خلق چه | لوئي کوي | زما له عبادت نه

زهٔ به ستاسو دُعا قبلوم ، بیشکه کوم خلق چه زما دَ عبادت نه تکبر کوي

ع ٦

سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ﴿٦٠﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ

ډیر زر به داخل شي | په دوزخ کښې | ذلیله | الله | هغه ذات چه | پیدا ئې کړله | تاسو دپاره

هغوی به د ډیر ذلت سره په دوزخ کښې داخلیږي ۔ الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو له ئې شپه

الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ

شپه | چه تاسو آرام وکړئ | په دے کښې | او ورځ | روښانه | بیشکه | الله | لوئے فضل والا دے

جوړه کړه چه آرام پکښې کوئ ، او ورځ ئې درله روښانه کړے ده ، بیشکه چه الله تعالیٰ په خلقو ډیرے

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾ ذٰلِكُمُ

په خلقو باندې | او لیکن | اکثر | خلق | شکر نه کوی | هم دا

مهربانئ کړی دی خو اکثر خلق شکر نه کوی ۔ هم دا الله دے

اَللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۫ فَاَنّٰى

وقف لازم

الله | ستاسو رب دے | پیدا کوونکے | د هر څیز | نشته بل معبود | سیوا د ده نه | نو کوم خوا

چه ستاسو رب دے د هر څیز پیدا کوونکے دے ، د هغه نه سیوا بل څوک د عبادت لائق نشته نو دا تاسو

تُؤْفَكُوْنَ ﴿٦٢﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

تاسو اړولی روان یئ ؟ | د غه شان | اړولی روان وو | هغه خلق چه | هغوی به د الله د آیتونو نه

کوم خوا اړولی روان یئ ؟ د غه شان هغه خلق هم اړولی روان وو چه د الله تعالیٰ د آیتونو نه

يَجْحَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا

انکار کولو | هم الله دے | چا چه | جوړه کړه | تاسو دپاره | زمکه | آرام ګاه

به ئې انکار کولو ۔ الله تعالیٰ هغه ذات دے چه زمکه ئې تاسو له د استوګنې ځائے جوړ کړے دے

وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ

او آسمان | چهت | او صورتونه ئې جوړ کړل ستاسو | نو ښه ئې جوړ کړل | صورتونه ستاسو | او روزی ئې درکړه تاسو ته

او آسمان ئې درباندې چهت ساز کړے دے او ستاسو صورتونه ئې جوړ کړی دی نو څومره ښه صورتونه ئې جوړ کړی دی او ښه ښه پاکیزه

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚۖ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ

له پاکیزه څیزونو نه | هم دا الله | ستاسو رب دے | پس ډیر برکت والا دے | الله | چه رب دے

خوراکونه ئې درله روزی کړی دی ، هم دا الله تعالیٰ ستاسو رب دے نو الله تعالیٰ ډیر د برکتونو خاوند دے چه د ټول مخلوق

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٤﴾ هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ

د ټولو جهانونو | هم دے دے | همیشه ژوندے | نشته څوک معبود | سیوا د ده نه | پس عبادت کوئ تاسو د ده | خالص کوونکي

پالونکے دے ۔ دے همیشه ژوندے دے د ده نه سیوا بل څوک معبود نشته ، نو تاسو په اخلاص سره د ده

لَهُ الدِّيْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٥﴾ قُلْ

ده د پاره | عبادت | ټول تعریفونه | الله د پاره دی | چه رب دے | د ټولو جهانونو | ووایه

بلنه کوئ ټول تعریفونه الله تعالیٰ د پاره دی چه د ټولو مخلوقاتو رب دے ۔ (اے پیغمبره!) ته ووایه

إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

بیشکه زهٔ | منع کړے شوے یم | (له دې څخه) چه زهٔ عبادت وکړم دَ هغو چه | عبادت ئے کوئ تاسو | سیوا | دَ الله نه

چه زهٔ خو دَ دے نه منع کړے شوے یم چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا ستاسو دَ معبودانو عبادت دِ وُکړم

لَمَّا جَاءَنِيَ الْبَيِّنَاتُ مِنْ رَبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ

هرکله چه | راغلے ماته | (ښکاره) نخښے | زما دَ رب له طرف نه | او ماته حکم شوے دے | چه زهٔ دِ تابعدار شم

سره دَ دے خبرے چه ماته دَ خپل ربّ له طرفه ښکاره نخښے رارسیدلے دی او ماته خو بس دا حکم دے چه دَ رب العالمین

لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ٦٦ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ

دَ پروردګار دَ عالمونو | هم دے دے | چا چه | پیدا کړئ تاسو | له خاوړے نه | بیا

وړاندِ دِ سر ټیټوم . خدائے هغه ذات دے چه تاسو ئے دَ خاوړے نه راپیدا کړئ بیا ئے

مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ

له نطفے نه | بیا | دَ وینے له ټوټے نه | بیا | دے تاسو راوُباسی | ماشومان | بیا

دَ څاڅکی اوبو نه بیا ئے دَ وینے له ټوټے نه بیا ئے ماشوم (دَ مور دَ ګیډے نه) راوویستلئ بیا

لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَنْ

چه تاسو ورسیږئ | خپل طاقت ته | بیا | چه شئ تاسو | بوډاګان | او څوک له تاسو نه | هغه څوک دے

تو دے چه ډکے ځوانئ ته ورسیدئ بیا تر دے چه بوډاګان شئ او څوک درکښے وړاندِ

يُتَوَفَّىٰ مِنْ قَبْلُ ۖ وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ٦٧

چه مړ شی | له دے نه وړاندِ | او چه تاسو ورسیږئ | مقرر ے موده ته | او دَ پاره دَ دے چه تاسو | عقل نه کار واخلئ

مړ شی او دَ پاره دَ دے چه تاسو ټول خپلے مقررے نیټے ته ورسیږئ او چه دَ پوهے نه کار واخلئ.

هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ ۖ فَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا

دے | هغه ذات دے چه | ژوندی کوی | او مړهٔ کوی | پس هرکله چه | دے فیصله کوی | دَ څهٔ کار | نو صرف هم دا

خدائے هغه ذات دے چه ژوندی کول او وژل کوی ، نو څهٔ وخت چه هغه یو کار تر سره کول غواړی نو ورته

يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ٦٨ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ

وائی | هغهٔ ته | چه شه | نو هغه شی | آیا تا نهٔ دی کتلی | هغه خلقو ته | چه جګړے کوی

وائی چه اوشه نو په هغه درنګ وُشی . آیا تهٔ هغه خلقو ته نهٔ ګورے چه دَ الله تعالیٰ دَ ایتونو په

فِي آيَاتِ اللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ٦٩ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِالْكِتَابِ وَبِمَا

دَ الله په ایتونو کښے | کوم خوا | دوی اړولی روان دی؟ | هغه خلق چه | دروغ ئے وګڼړلو | کتاب | او هغه څهٔ

حقله جګړے کوی دا دوی لا کوم خوا ته روان دی ؟ هغه څوک چه دا کتاب ئے دروغ وګڼړلو او کوم (کتابونه او

أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ٧٠ إِذِ الْأَغْلَالُ

چه رالیږلی دی مونږ | په هغه سره | خپل پیغمبران | نو ژر زر به | دوی پوهه شی | هرکله چه | طوقونه (به وی)

حکمونه) چه مونږ دَ نورو پیغمبرانو په لاس رالیږلی وُو نو ژر زر به په پته پوهه شی چه په څټونو کښے ورته تیږ ندی

رکوع ١٢

منزل ٦

فِىٓ اَعۡنَاقِهِمۡ وَالسَّلٰسِلُ ؕ يُسۡحَبُوۡنَ ﴿٧١﴾ فِى الۡحَمِيۡمِ ۙ ثُمَّ فِى النَّارِ

دَ دوئ په څټونو کښې | او زنځيرونه | دوئ به راښکلې شي | په ګرمو اوبو کښې | بيا به | په اور کښې

او زنځيرونه وراچولې شي ، راښکلې به شي په ايشيدلو اوبو کښې ، بيا به په اور کښې

يُسۡجَرُوۡنَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيۡلَ لَهُمۡ اَيۡنَ مَا كُنۡتُمۡ تُشۡرِكُوۡنَ ﴿٧٣﴾

دوئ سوزولې شي | بيا به ويلې شي | دوئ ته | چرته دي | هغه څه | چه تاسو به شريکول.

ورشوړه کړې شي . بيا به ترې نه تپوس وشي چه (نن) ستاسو هغه شريکان څه شول .

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوۡا ضَلُّوۡا عَنَّا بَلۡ لَّمۡ نَكُنۡ نَّدۡعُوۡا

سيوا دَ الله نه | دوئ به وائي | ورک شول | له مونږه نه | بلکه | مونږ خو عبادت نه وو کړې

چه دَ الله تعالیٰ نه سيوا به موجود ول هغوئ به وائي چه هغوئ رانه غائب شول بلکه مونږ خو به له دې نه وړاندې

مِنۡ قَبۡلُ شَيۡـئًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿٧٤﴾ ذٰلِكُمۡ

له دې نه وړاندې | دَ څه څيز | دغه شان | ګمراه کوي | الله | کافران | دا (عذاب) په تاسو

دَ بل هيچا عبادت نه کولو . دغه شان الله تعالیٰ کافران په ګمراهئ کښې ښنتې ساتي . دا اوس دَ هغې

بِمَا كُنۡتُمۡ تَفۡرَحُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ وَبِمَا كُنۡتُمۡ

ځکه دې | چه تاسو به | خوشحاليدئ | په زمکه کښې | په ناحقه | او په وجه دَ هغه څه | چه تاسو به

خبرې بدله دې چه تاسو به په دُنيا کښې بر ناحقه خوشحالئ کولې او دا دَ هغې بدله ده چه تاسو

تَمۡرَحُوۡنَ ﴿٧٥﴾ اُدۡخُلُوۡۤا اَبۡوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ۚ فَبِئۡسَ

غرور کولو | داخل شئ تاسو | دروازو | دَ دوزخ ته | هميشه به يئ | په هغې کښې | پس بد دې

به ځان ته غاوره وئ . اوس دَ جهنم په دروازو ورننوځئ تل به پکښې پراته يئ ، دَ غاوره خلقو

مَثۡوَى الۡمُتَكَبِّرِيۡنَ ﴿٧٦﴾ فَاصۡبِرۡ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا

ځائ | دَ کبرجنو | پس صبر کوه | بيشکه | وعده | دَ الله | رښتينې ده | پس که چرې

ټيکاڼه ډيره خرابه ده . نو (اے نبی ﷺ!) ته صبر کوه بيشکه چه دَ خدائے وعده رښتينې ده ، نو مونږ

نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ الَّذِىۡ نَعِدُهُمۡ اَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ

مونږ وښايو تا ته | څه حصه دَ هغه (عذاب) | چه | مونږ ئے وعده کوو دَ دوئ سره | يا | مونږ روح قبض کړو ستا

چه دوئ سره دَ کومې سزا وعده کوو که دَ هغې څه لږه حصه تا ته وښايو يا که تا (دَ هغې دَ ظاهريدو نه وړاندې)

فَاِلَيۡنَا يُرۡجَعُوۡنَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا رُسُلًا مِّنۡ قَبۡلِكَ

پس زمونږ طرف ته به | دوئ واپس راګرځولې شي | او ليږلي وو مونږ | پيغمبران | له تا نه وړاندې

وفات کړو نو (په هرصورت) ټول به مونږ ته پسته راځي . او مونږ له تا نه وړاندې ډير پيغمبران راليږلي دي

مِنۡهُمۡ مَّنۡ قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ لَّمۡ نَقۡصُصۡ

ځينې له دوئ نه | هغه څوک دي | (دَ کوم حال چه) داورولو مونږ | تا ته | او ځينې هغه دي چه | نه دې اورولي

چه دَ چا قصې مو تا ته بيان کړې دي ، او دَ چا قيصې مو در ته بيان

عَلَيْكَ ؕ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ

تا ته | او نهٔ وو (حق) | دَ هیڅ پیغمبر | چه هغه راوړی | څهٔ معجزه | مګر | دَ الله په حکم

کړی نهٔ دی. او هر پیغمبر چه یوه نخښه ښودلے ده نو بس دَ خدائے په اذن سره ئے ښودلے ده

فَاِذَا جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ

بیا هر کله چه | راغے | حکم | دَ الله | نو فیصله وکړے شوه | په انصاف سره | او تاوانیان شول | دغه وخت

نو څهٔ وخت چه دَ خدائے حکم راشی نو سمه پوره فیصله به وُشی او دَ باطل ملګری به تاوانیان

الْمُبْطِلُوْنَ ﴿٧٨﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا ع ٨ / ١٤

اهل باطل | الله | هغه ذات دے چه | پیدا ئے کړل | تاسو دَ پاره | څاروی | چه تاسو سواره شئ

پاتے شی. الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو دَ پاره ئے (قسم قسم) څاروی پیدا کړی دی چه په څه باندې

مِنْهَا وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا

په ځنو ئے هغوی | او ځنے دَ هغوی | تاسو خوری | او تاسو دَ پاره | په دے کښے | (ډیرے) فائدے دی | او چه ورسیږئ تاسو

سورلئ کوئ او دَ چا نه خوراکه کوئ. او تاسو له په کښے نور هم ډیرے فائدے پرتے دی او چه دَ خپلو

عَلَيْهَا حَاجَةً فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ

په هغوی باندې | خپل حاجت ته | چه ستاسو په سینو کښے دے | او په څاروو باند | او | په کشتو باند (هم)

زړونو مرادونه پورے ترسره کړئ او په دغه څاروو او په کشتو باندې تاسو

تُحْمَلُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ۖ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿٨١﴾

تاسو سوروئے شئ | او درښائی تاسو ته | خپلے نخښے | پس لرکوم یوے | نخښے دَ الله نه | انکار کوئ تاسو؟

سواره ګرځئ. او هغه درته خپل نور نور قدرتونه هم ښائی، نو تاسو به دَ الله دَ کوم کوم قدرتونو نه انکار کوئ؟

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

پس آیا نهٔ دی ګرځیدلی دوی | په زمکه کښے | چه کتلے وے دوی | چه څنګه | وو | انجام

آیا دوی په ملکونو ګرځیدلی نهٔ دی چه دائے کتلی وے چه دَ دوی نه دَ مخکنو خلقو

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً

دَ هغه کسانو | چه له دوی نه وړاندې | هغوی وو | ډیر | له دوی نه | او ډیر زیات | په طاقت کښے

انجام څنګه شو؟ هغوی خو دَ دوی نه ډیر وو او په طاقت کښے ترے نه زیات وو

وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

او په نخښو سره | په زمکه کښے | پس په کار رانغله | دَ دوی | هغه څهٔ چه

اودَ زمکے په مخ ئے ډیرے نخښے پریښودې وے، نو دَ هغوی دا کټه هیڅ په کار

يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا

دوی به کول | بیا هر کله چه | راغلل دوی ته | پیغمبرانؑ دَ دوی | په معجزو سره | نو خوشحاله به شول | په هغه څهٔ

رانغله. غرض دا چه څهٔ وخت پیغمبرانو ورته څرګندے نخښے راوړے، نو هغوی په خپل

عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

چه ورسره وو | چه دوی سره په ډو | له پوهې نه | او راګير کړل | دوی | هغه (عذاب) | چه ډوډوی هغې پورې

علم باندې ناز شروع کړو . او په کوم څيز پورې چه دوی ملنډې کولې هغه ترې

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

ملنډې کولې | بيا هر کله چه | دوی وليدلو | زمونږ عذاب | نو ووئې ويئيل | چه مونږ ايمان راوړو | په الله باندې

نه راتاو شو . بيا چه دغه خلقو زمونږ عذاب وليدلو نو دوی ووئيل چه مونږ په يو خدائ باندې ايمان راوړو

وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿٨٤﴾

چه يو دے | او انکار وکړو مونږ | په هغه څه | چه مونږ په ده هغه سره | شريکان کولې .

دے ، او کوم شريکان چه مونږ جوړول د هغوئ نه لاس په سر يو

فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ

پس نفع ورنه کړه دوئ ته | د دوئ ايمان | هر کله چه | دوی وليدلو | زمونږ عذاب | دا دستور دے د الله

نو دغه ايمان ورته هيڅ فائده ورنه کړه څه وخت چه زمونږ عذاب ورته ښکاره شو ، دا د الله عامه قاعده

الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ ع ۹ ۱۴

کوم چه | تير شوے دے | د ده په بندګانو کښې | او تاوانيان شول | په دغه ځائ کښې | کافران

ده چه د بندګانو په حقله پخوا راسے جاری راغلې ده او دغلته کافران تاوانيان پاتې شول .

سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اَرْبَعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة حٰمٓ سجده په مکه کښې نازل شوه او | شروع کوم په نوم د الله چه لوئ مهربان ډير زيات رحم کوونکے دے | په دې کښې ۵۴ آيتونه او ۶ رکوع گانې دي

د الله په نوم شروع کوم چه لوئ مهربان ډير زيات رحم خاوند دے .

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٢﴾ كِتٰبٌ فُصِّلَتْ

حٰمٓ | (دا قرآن) نازل کړے شوے دے | له طرفه د ډير مهربان | نهايت رحم کوونکي نه | دا کتاب دے | واضح کړے شوی دی

حٰمٓ . دا کتاب د رحم کوونکي مهربان (خدائ) له طرف نه نازل شوے دے . دا يو داسې کتاب دے چه آيتونه ئې صفا

اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣﴾ بَشِيْرًا

د دې آيتونه | قرآن دے | په عربئ ژبه کښې | د پاره د هغه قوم | چه پوهيږي | زيرے ورکوونکے

صفا بيان شوی دی (دا) قرآن په عربئ ژبه کښې دے هغه خلقو د پاره چه پوهه دی . (دا قرآن) زيرے ورکوونکے

وَّنَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٤﴾

او ويروونکے | پس مخ واړولو | په دوی کښې اکثرو خلقو | پس دوئ | نه | آورى

او (له عذابه) ويروونکے دے ، خو په دوئ کښې اکثرو کسانو ترې نه مخ وګرځولو او دوئ هډو آورى نه .

وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ

او دوی وائي | زمونږ زړونه | په پردو کښې دی | له هغه څه نه | چه ته ئې بلې مونږ | د هغې طرف ته

او (کافرانو) ووئيل چه زمونږ زړونه په غلافونو کښې دی د هغې خبرې نه د کومې طرف ته چه ته مونږ بلې

وَفِيٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ

او زموږ په غوږونو کښې | درند والے | او زموږ په مینځ کښې | او ستا په مینځ کښې | یوه پرده ده | پس ته کار کوه

او زموږ په غوږونو کښې درند والے (یعنی کوڼ والے) دے او زموږ او ستاسو تر مینځه پرده ده زه پنډه ده نو ته خپل کار کوه

اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۝٥ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى

بیشکه موږ | خپل کار کوو | ووایه | بیشکه زه خو | یو انسان یم | په شان ستاسو | وحی کولے شی

(او) موږ لګیا یو خپل کار کوو (اے نبی ﷺ) ته ورته ووایه چه زه خو هم ستاسو په شان بشریم (خو) ما ته داوګ

اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ۗ

زما طرف ته | دا چه ستاسو معبود | هم یو معبود دے | پس متوجه شئ | د ده طرف ته | او معافی غواړئ له ده نه

شوے ده چه ستاسو معبود یو دے هم (د)، هغه (حکم منلو) ته نیغ ولاړ وسیږئ او بخښنه تر ے نه غواړئ

وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۝٦ الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ

او هلاکت دے | مشرکانو د پاره | کوم چه | نه ورکوی | زکوٰة | او دوی

او مشرکانو د پاره ډیره لویه تباهی مقرر ده. څوک چه زکوٰة نه ورکوی ، او د

بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝٧ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

د آخرت (هم) | منکران دی | بیشکه | کوم خلق | چه ایمان راوړی | او عمل ئے وکړو

آخرت نه منکر وی . بیشکه کوم خلق چه ایمان راوړو او نیک عمل

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝٨ قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ

نیک | دوی د پاره | اجر دے | نه ختمیدونکے | ووایه | آیا تاسو | انکار کوئ

ئے وکړو هغوی له داسے اجر مقرر دے چه چرے به هم نه ختمیږی، ته پښتو وکړه چه آیا تاسو خلق د هغه

بِالَّذِيْ خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ۭ

د هغه (الله) | چه پیدا ئے کړه | زمکه | په دوو ورځو کښې | او تاسو مقررولئ | د ده د پاره | شریک

ذات نه انکار کوئ چا چه په دوو ورځو کښې زمکه پیدا کړه ؟ او هغه له شریکان جوړوئ .

ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٩ وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا

هم دا دے | رب | د ټولو جهانونو | او پیدا ئے کړل | په دے کښې | غرونه | د پاسه د دے

هم دا (الله) د ټول جهان رب دے . او هغه په دے (زمکه) کښې د پاسه نه دلانه غرونه کیښودل .

وَبٰرَكَ فِيْهَا وَقَدَّرَ فِيْهَآ اَقْوَاتَهَا فِيْٓ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ ۭ سَوَاۗءً

او برکت ئے کیښودو | په دے کښې | او مقرر ئے کړل | په دے کښې | د دے خوراکونه | په څلورو ورځو کښې | برابر دی

او په زمکه کښې ئے برکت کیښودو او (قسم قسم) غذاګانے ئے په کښې په څلورو ورځو کښې تجویز کړے د غه څیزونه

لِّلسَّاۗىِٕلِيْنَ ۝١٠ ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَاۗءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ

د سوال کوونکو د پاره | بیا متوجه شو دے | آسمان طرف ته | او هغه | یو لوګے وو | پس وئے فرمایل

د پوښتنه کوونکو د پاره پوره دی . بیا (الله تعالیٰ) آسمان طرف ته متوجه شو او هغه لوګے غوندے وو ، نو آسمان ته او

السجدة

ع ٢ / ١٥

لَهَا وَلِلْاَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ؕ قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ﴿١١﴾

ده ته | او ځمکې ته | چه تاسو دواړه راشئ | په خوښه | یا په ناخوښه | دواړو وویل | چه راغلو موږ | په خوښه ـ

ځمکې ته ئې وویل چه تاسو دواړه په رضا راشئ یا په زور ـ دواړو وویل چه موږ درته په رضا حاضر یو ـ

فَقَضٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ فِيْ يَوْمَيْنِ وَ اَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ

بیا ئې جوړکړل دوی | اووه | آسمانونه | په دوو ورځو کښې | او حکم ئې ولیږلو | په هر آسمان کښې

نو په دوو ورځو کښې ئې اووه آسمانونه جوړکړل ، او هر آسمان ته ئې د هغه په مناسب

اَمْرَهَا ؕ وَ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ ۖۗ وَ حِفْظًا ؕ

د هغه د کار | او ښائسته کړلو موږ | آسمان د دنیا | په ډیوو (یعنې ستورو) سره | او حفاظت د پاره (هم)

حکم ولیږلو او موږ (د ټولو نه نزدې) د دنیا آسمان په ډیوو (یعنې په ستورو) ښائسته کړو او د هغه حفاظت مو

ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿١٢﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ

دا | ټاکلې دے | د ډیر زبردست | پوهه | بیا که چرې | دوی مخ واړولو | پس ووایه

وکړو ، دا د زبردست (او) علم والا (پروردګار) انتظام دے ، نو که اوس هم دوی (د حق نه) مخ وګرځوی نو ته ووایه

اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ ﴿١٣﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ

چه زه ډیروم تاسو | له یو عذاب نه | په شان | د عذاب | د عاد | او د ثمود | هرکله چه راغلل دوی ته

چه زه مو د یو داسې آفت نه ډیروم لکه په عاد او ثمود چه راپریوتې وو ، کوم وخت چه هغوی

الرُّسُلُ مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا

پیغمبران | د دوی له مخې نه | او د دوی له وروستو نه | چه تاسو عبادت مه کوئ | سیوا

ته د وړاندې دروستو نه پیغمبران راغلل (او دوئ وئیل) چه د الله تعالی نه بغیر (د بل چا)

اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا بِمَآ

د الله نه | دوی وویل | که چرې غوښتلې | زموږ رب | نو نازل که به ئې وے | فرښتې | پس بیشکه موږ | په هغه څه

عبادت مه کوئ (نو) هغوی وویل که چرې زموږ رب غوښتلې نو (زموږ د هدایت د پاره) فرښتې به ئې رالیږلې وې پس موږ ستاسو

اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ

چه رالیږلې شوې یئ تاسو | په هغې | منکریو | پس قوم د عاد چه وو | دوی تکبر وکړو | په ځمکه کښې

راوړې پیغام نه منو ـ بیا د عاد قوم چه وو نو هغوی د ځمکې په مخ بې ناحقه غرور

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمْ يَرَوْا

په ناحقه | او دوی وویل | څوک دی | زیات | له موږ نه | په طاقت کښې | آیا دوی نه دی کتلي

شروع کړو ، او دا ئې وویل چه زموږ نه زیات زور آور او لا بل څوک کیدے شي ؟ (نه ګوري) چه هغوی

اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ

چه بیشکه الله | چا چه | پیدا کړل دوی | دے | ډیر زیات دے | له دوی نه | په طاقت کښې

دے ته ونه کتل چه کوم خدائے دوی پیدا کړي دي هغه د دوی نه زیات زور آور دے ـ

وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا

او دوی | زمونږ په آیتونو نه | انکار کولو | پس راولیږله مونږ | په دوی باندې | سیلۍ | تنده

او نکیا دوی زمونږ د آیتونو نه انکار کولو . نو مونږه پرے په سپیرو ورځو کښې یوه تنده

فِي أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ

په ورځو | سپیرو کښې | چه وڅکوو مونږ دوی ته | عذاب | د ذلت | په ژوند کښې

سیلۍ راولیږله ، چه په دنیا کښې ورباندې د شرمونکی عذاب خوند

الدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَخْزَىٰ ۖ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا ثَمُودُ

د دنیا | او خامخا عذاب | د آخرت | زیات رسوا کوونکے دے | او دوی ته به مدد هم نه ملاویږی | او ثمود چه وو

وڅکوو او د آخرت عذاب به لا د نور زیات شرمیدو سبب شی او دغوی به مدد هم نه شی کولے، او ثمود چه

فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمَىٰ عَلَى الْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ

پس لار ورښودله مونږ دوی ته | نو خوښ کړو دوی | روند والے | په هدایت | پس ونیول دوی

وو نو مونږ ورته سمه لار وښودله خو هغوی د هدایت په مقابله کښې ګمراهی غوره کړه نو د خپلو عملونو

صَاعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُونِ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٧﴾ وَنَجَّيْنَا

آفت | د عذاب | سپکوونکی | په وجه د هغه څه | چه دوی به کول . | او نجات ورکړو مونږ

په سبب د یو شرمونکی عذاب آفت راوونیول . او مونږ هغه خلق

٢ ع ١٦ الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾ وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَاءُ اللَّهِ

هغوی ته چه | ایمان ئے راوړے وو | او دوی به | پرهیزګاری کوله | او په کومه ورځ | چه راجمع به کړے شی | دښمنان | د الله

چه ایمان ئے راوړو او مونږ نه ویریدل (د دے عذاب نه) بچ کړل. او په کومه ورځ چه د الله تعالیٰ دښمنان

إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا

د دوزخ طرف ته | نو دوی به | (په ډلو کښې) تقسیم کړے شی | تر دے چه | هر کله | دوی راشی هغې ته

دوزخ ته راجمع کړے شی نو بیا به په ډلو کښې تقسیم کړے شی . تر دے چه دوزخ ته نزدے ورشی

شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا

نو ګواهی به ورکړی | په دوی باندې | د دوی غوږونه | او د دوی سترګے | او د دوی څرمنے | په هغه څه چه

نو خپل غوږونه او سترګے او څرمنے به پرے ګواهی ورکړی چه دوی به (په دنیا کښې)

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا

دوی به کول | او دوی به وائی | خپلو څرمنو ته | (چه) ولے | ګواهی ورکړه تاسو | په مونږه

څه څه کارونه کول. او دوی به خپلو څرمنو ته وائی چه تاسو راباندې ولے ګواهانے شوئ؟

قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ

دوی به وائی | چه ګویا کړو مونږ | الله | چاچه | ګویا کړے دے | هر څیز | او دهٔ | پیدا کړی تاسو

هغوی به وائی چه مونږ هغه الله ګویا کړی یو چاچه هر یو څیز ګویا کړے دے ، او هغهٔ تاسو اول ځل پیدا

اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٢١﴾ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ

په اول ځل | او د ده طرف ته | تاسو واپس کړی شی | او تاسو خپل ځان پټولے نه شو | (له دے نه) چه | ګواهي به ورکړی

پیدا کړی وئ او دا چه هغه ته به بیرته ورتلئ. او تاسو (د ګناه کولو په وخت له دے خبرے نه) پټیدے نه شوئ

عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَاۤ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ

په تاسو باندے | غوږونه ستاسو | او نه سترګے ستاسو | او نه څرمنے ستاسو | او لیکن | ګمان کولو تاسو

چه ستاسو غوږونه، ستاسو سترګے او ستاسو څرمنے به ستاسو خلاف ګواهي ورکوی بلکه تاسو خو ګمان کولو

اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِىْ

چه الله | نه پیژنی | ډیر | له هغه څه نه | چه تاسو یے کوئ | او ستاسو هم دا ګمان وو | چه

چه الله تعالیٰ ستاسو ډیر کارونه چه تاسو یے کوئ هم نه پیژنی. او ستاسو هم دے ګمان چه تاسو

ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾

تاسو کړے وو | د خپل رب په حقله | هم ده هلاک کړئ تاسو | پس شوئ تاسو | له نقصان موندونکو نه

په د خپل رب په حقله کولو تاسو یے برباد کړئ او تاسو په تاوانیانو کښے پاتے شوئ.

فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ

بیا که چرے | دوی صبر وکړی | نو (هم) اور | ټیکاڼه ده | د دوی | او که چرے | دوی معافی غواړی | پس نه دی دوی

نو اوس که دوی صبر (هم) وکړی خو هم دوزخ د دوی ټیکاڼه ده، او که چرے دوی توبه وکړی نو د دوی

مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوْا

چه معافی به ورکړے شی دوی ته | او مقرر کړل موږ | دوی د پاره | څه ملګری | نو هغوی ښائسته ښکاره کړل

توبه به نه شی قبلولے. او موږ دوی سره (په دنیا کښے) څه ملګری مقرر کړی وو نو هغوی به ورته

لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ

دوی ته | هغه څه چه | چه د دوی وړاندے وو | او هغه څه چه د دوی وروستو وو | او ثابت شوه | په دوی باندے

خپل وړاندے وروستو عملونه ښائسته ښکاره کول، او په دوی باندے هم د الله تعالیٰ

الْقَوْلُ فِىْۤ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ

وعده د عذاب | په هغه اُمتونو کښے | چه تیر شوی دی | دوی ته له دوی نه | له پیریانو | او انسانانو نه

قول پوره شو (لکه) د نورو وړومبنو اُمتونو په شان، که پیریان وو او که بنیادم وو

ع ٣ ١٧

اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا

بیشکه دوی | ؤو | نقصان موندونکی | او ووئیل | هغو کسانو چه | کافران وو | چه مه اَوری تاسو | دا

بیشکه چه دوی په تاوان کښے پاتے شول. او (اے نبی!) کافران وائی چه دا قرآن مه

الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿٢٦﴾ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ

قرآن | او شور کوئ | په دے کښے | د پاره د دے چه تاسو | غالب شئ | پس خامخا به وڅکوو موږ | هغه کسانو ته

اَورئ او (کله چه لوستے شی نو) پکښے شور کوئ شاید چه غلبه بیا مومئ. نو موږ به دے کافرانو ته

كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ كَانُوْا

چه کافران دي | عذاب | سخت | او مونږ به دوی له ضرور بدله ورکړو | د هغه بدکاره بد کارونو | چه دوی به

سخت عذاب خوند ورښایو . او د خپلو بدکاره بدو کارونو سزا ورکوو چه

يَعْمَلُوْنَ ۝٢٧ ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيْهَا

کول | هم دا | سزا ده | د دښمنانو | د الله | اور | دوی دپاره | په دے کښے

به ورکړو . د الله تعالیٰ د دښمنانو هم دغه سزا ده (یعنی) دوزخ ، هم دغه د هغوی د

دَارُ الْخُلْدِ ۭ جَزَآءً ۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ۝٢٨

کور دے | د همیشه اوسیدلو | (دا) بدله (ده) | د هغه څه | چه دوی به | زمونږ د آیتونو نه | انکار کولو ۔

همیشه اوسیدلو کور دے . دا د دے (خبرے) سزا ده چه هغوی به زمونږ د آیتونو نه انکار کولو .

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ

او وائی به | هغه خلق چه | کافران دي | اے زمونږه ربه ! | وښایه مونږ ته | هغه خلق چه

او کافران به وائی چه اے زمونږه ربه ! مونږ ته هغه دواړه قومه یعنی

اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا

مونږ ئے گمراه کړی وو | له پیریانو | او انسانانو نه | چه مونږ ئے وغورځوو هغه دواړه | د خپلو قدمونو لاندې

هغه پیریان او انسانان وښایه چه مونږه ئے گمراه کړی وُو چه هغوی لره د ښپو لاندې وغورځوو چه

لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ۝٢٩ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ

چه شی دوی | له ډیرو ښکتو خلقو نه | بیشکه | هغه خلق چه | ووئیل | رب زمونږ | الله دے | بیا

ښه سپک شی . بیشکه کومو خلقو چه اقرار وکړو چه زمونږ رب الله تعالیٰ دے بیا

اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا

قائم پاتے شول | نازلیږی به | په دوی | فرښتے | چه تاسو مه ویریږئ | او غم مه کوئ

په دے قائم پاتے شو، نو په هغوی به (د رحمت) فرښتے راکوزیږی (او وائی به) چه تاسو مه ویریږئ او مه غم کوئ

وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝٣٠ نَحْنُ

او خوشحاله شئ | په جنت | د کوم چه | تاسو سره وعده کولے شی | هم مونږ یُو

او د جنت زیرے واورئ د کوم چه تاسو سره وعده کولے شی ، مونږ د دنیا

اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيْهَا

ستاسو دوستان | په ژوند کښے | د دُنیا | او په آخرت کښے (هم) | او (وی به) تاسو دپاره | په دے کښے

په ژوند کښے هم ستاسو دوستان وُو او په آخرت کښے به هم یُو او چه څه مو زړه

مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ۝٣١ نُزُلًا

هغه څه چه غواړی ئے | ستاسو نفسونه | او تاسو دپاره (به وی) | په دے کښے | هغه څه | چه تاسو ئے غواړئ | دا میلمستیا ده

غواړی هغه به درته په جنت کښے حاضروی او تاسو دپاره به هغه هر څه موجود وی چه تاسو ئے غواړئ دا میلمستیا ده

ع ١٨

مِّنۡ غَفُوۡرٍ رَّحِيۡمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَنۡ اَحۡسَنُ قَوۡلًا مِّمَّنۡ دَعَاۤ

دَ بخښونکي | مهربان له طرفه | او دَ چا | ښه | خبره | له هغه چا نه | چه دعوت ئے ورکړو

دَ بخښونکي مهربان خدائ له طرفه. او دَ هغه بنده نه ښکلے خبره دَ چا کیدے شي چه دَ الله تعالیٰ

اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِىۡ مِنَ الۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿٣٣﴾

الله طرف ته | او عمل ئے وکړو | نیک | او وَ ئے وئیل | بیشکه زهٔ | له مسلمانانو نه یم

طرف ته بلنه کوي او نیک عمل کوي او دا وائي چه زهٔ له فرمانبردارو نه یم

وَلَا تَسۡتَوِى الۡحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ؕ اِدۡفَعۡ بِالَّتِىۡ

او نهٔ دي برابر | نیکي | او بدي | (بدي) لرے کړه | په هغه (خبره)

او نیکي او بدي هیچرے برابر کیدے نهٔ شي. تهٔ په ښه (خوږه) طریقه (دُښمن) دَ

هِىَ اَحۡسَنُ فَاِذَا الَّذِىۡ بَيۡنَكَ وَبَيۡنَهٗ عَدَاوَةٌ

چه هغه ډیره ښهٔ وي | نو فورًا | هغه کس | چه ستا په مینځ | او دَ هغهٔ په مینځ کښے | دُښمني ده

ځان نه دفع کړه، نو ستا او دَ چا ترمینځهٔ چه عداوت وي هغه به داسے

كَاَنَّهٗ وَلِىٌّ حَمِيۡمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقّٰٮهَاۤ اِلَّا الَّذِيۡنَ

(شي به دا ئے) لکه چه هغه | دوست دے | گرم جوش | او نهٔ شي ورکولے دا (خبره) | مگر | هغه چاته چه

(نرم) شي لکه مهربان آشنا. او دا نصیحت دَ هغه چا نصیب کیږي چه صبر

صَبَرُوۡا ۚ وَمَا يُلَقّٰٮهَاۤ اِلَّا ذُوۡ حَظٍّ عَظِيۡمٍ ﴿٣٥﴾ وَاِمَّا

صبر ئے وکړو | او نهٔ شي ورکولے دا (خبره) | مگر | خاوند دَ نصیب | لوئے ته | او کهٔ چیرے

کولے شي، او دا سبق هغه خوک اخستے شي چه دَ غټ نصیب خاوند وي، او کهٔ چیرے

يَنۡزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيۡطٰنِ نَزۡغٌ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

راشي تاته | دَ شیطان له طرفه | څهٔ وسوسه | نو پناه غواړه | دَ الله | بیشکه هم ځ دے

ستا په زړهٔ کښے دَ شیطان له غاړے نه څهٔ وسوسه راپیدا شي نو دَ الله تعالیٰ نه پناه غواړه، بیشکه دے هم

السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿٣٦﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهِ الَّيۡلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمۡسُ

اورېدونکے | پوهه | او دَ دهٔ له نخښو نه دي | شپه | او ورځ | او نمر

څهٔ اوري په هر څهٔ پوهه دے. او دَ دهٔ (دَ قدرت) په نخښو کښے شپه، ورځ، نمر او

وَالۡقَمَرُ ؕ لَا تَسۡجُدُوۡا لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَاسۡجُدُوۡا لِلّٰهِ

او سپوږمۍ | سجده مهٔ کوئ | نمر ته | او نهٔ سپوږمۍ ته | او سجده وکړه | الله ته

سپوږمۍ دي. نو تاسو مهٔ نمر ته سجدے لگوئ او مهٔ سپوږمۍ ته او صرف الله تعالیٰ ته سجدے لگوئ

الَّذِىۡ خَلَقَهُنَّ اِنۡ كُنۡتُمۡ اِيَّاهُ تَعۡبُدُوۡنَ ﴿٣٧﴾ فَاِنِ اسۡتَكۡبَرُوۡا

چا چه | پیدا کړل دا څیزونه | کهٔ چیرے تاسو | هم دَ دهٔ | عبادت کوئ | پس کهٔ چیرے کبر وکړي دوي

چا چه دا ټول څیزونه پیدا کړل کهٔ تاسو صرف دَ خدائے عبادت کول غواړئ. نو کهٔ دوي لوئي وکړه

فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ

نو هغه (فرښتې) چه | نزدے دی | ستا رب ته | هغوئ پاکي بيانوی | دَ ده ٔ | دَ شپې

نو کوم (فرښتې) چه ستا دَ رب سره دی هغوئ شپه او ورځ دَ ده ٔ تسبيح

وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُوْنَ (٣٨) السجدة وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى

او دَ ورځې | او دوی | نهٔ ستړی کيږی | او دَ ده ٔ له نخښونه دی | چه بيشکه ته وينې

کوی او هيڅ‌کله نهٔ ستړی کيږی. او دَ الله په نخښو نه دا ده چه زمکه ورته اوده

الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ

زمکه | عاجزه | بيا هر کله چه | مونږ را ووروو | په دے باندې | اوبه | نو په حرکت کيږې را غله

(خشکه) ښکاری، خو چه مونږ پرے اوبه را ووروو، نو هغه را پورته شی

وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ

او را وپړسيږی له | بيشکه | چا چه | ژوندئ کړه دا | هم هغه به را ژوندی کړی | مړی | بيشکه دے

او سمسوره شی، بيشکه چا چه دغه زمکه ژوندئ کړه هغه به مړی هم را ژوندی کوی، په ټولو شيانو يقيناً پوره قدرت لری

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (٣٩) اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا

په هر څيز باندې | قادر دے | بيشکه | کوم خلق چه | کاږه روان دی | زمونږ په ايتونو کښے

نشته چه هغه په هر څهٔ قدرت لری، کوم خلق چه زمونږ دَ ايتونو په حقله ګمراهي اختيار وی

لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ؕ اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِى النَّارِ خَيْرٌ

هغوئ پټ نهٔ دی | له مونږ نه | نو آيا څوک چه | واچولے شی | په اور کښے | (هغه) ښهٔ دے

هغوئ زمونږ نه پټ پاتے کيدے نهٔ شی. نو آيا څوک چه په اور کښے واچولے شی هغه ښهٔ شو

اَمْ مَّنْ يَّاْتِیْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِعْمَلُوْا مَا

يا | څوک چه | راشی | په امن سره | په ورځ | دَ قيامت | تاسو وکړئ | څهٔ چه

يا څوک چه دَ قيامت په ورځ په امن او امان (الله ته حاضر) راشی؟ تاسو څهٔ چه موږ زړهٔ غواړی

شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ (٤٠) اِنَّ الَّذِيْنَ

تاسو غواړئ | بيشکه دے | هغه څهٔ ته | چه تاسو ئے کوئ | ښهٔ ګوری | بيشکه | هغه خلق چه

هغه کوئ، بيشکه څهٔ چه تاسو کوئ الله تعالیٰ ګوری وينی. کوم خلق چه دَ دے

كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ (٤١) ۙ

انکار ئے وکړو | دَ دے قرآن نه | هر کله چه هغه راغے دوئ ته | او بيشکه دا | يو کتاب دے | دَ لوئے قدر

قرآن نه هر کله چه هغه دوئ ته راغے انکار کوی (برباد شول) او دا قرآن ډير دَ عزت والا کتاب دے

لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِيْلٌ

نهٔ راځی ورته | باطل | دَ ده ٔ دَ وړاندې نه | او نهٔ دَ ده ٔ دَ وروستو نه | رالیږلے شوے دے

چه غلطه خبره ورته نهٔ دَ وړاندې نه راتلے شی او نهٔ دَ وروستو نه، دا دَ حکمت او دَ تعريفونو

مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿۴۲﴾ مَا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ

له طرفه دَ لوئ حکمت والا | ستائيلي شوي نه | نهٔ ويلے کيږي | تاته | مګر | هغه څهٔ | چه ويلے شوي وو | نورو پيغمبرانو ته

خاوند (خدائے) رانازل کړے (کتاب) دے. تاته نور څهٔ نهٔ خو هغه شان خبرې ويلے شي لکه چه پخوانو پيغمبرانو ته ويلے شوې

مِن قَبْلِكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوْ

له تا نه وړاندې | بيشکه | ستا رب | لوئے بخښنے والا | او عذاب ورکوونکے هم | دردناک | او که چرے

دے. بيشکه چه ستا رب بخښونکے هم دے او دَ دردناک عذاب خاوند هم دے. او که مونږ دا

جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا لَوْلَا فُصِّلَتْ آيَاتُهُ ۖ

جوړ کړے مونږ دا | قرآن | په عجمي ژبه کښے | نو دوي به ويل | چه ولے واضح نهٔ کړے شول | دَ دے آيتونه

قرآن په عجمي (ژبه کښے) رالیږلے وے نو دوئ به ويل چه ولے دَ دے آيتونه صفا صفا بيان شوي نهٔ دي

أَأَعْجَمِيٌّ وَعَرَبِيٌّ ۗ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى

آيا (کتاب) عجمي | او (رسول) عربي ؟ | ووايه | هغه خو | هغه کسانو دَ پاره | چه ايمان ئے راوړو | هدايت

دا لا څنګه خبره ده چه (کتاب) عجمي او (پيغمبر) عربي دے؟ (اے نبي!) ته ووايه چه دا کتاب ايماندارو له هدايت او

وَشِفَاءٌ ۖ وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِي آذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ

او شفا ده | او کوم خلق چه | ايمان نهٔ راوړي | دَ هغوئ په غوږونو کښے | درونوالے دے | او هغه

شفاء ده. او څوک چه ايمان نهٔ راوړي دَ هغوئ په غوږونو کښے درونوالے راغلے دے او قرآن دَ هغوئ

عَلَيْهِمْ عَمًى ۚ أُولَٰئِكَ يُنَادَوْنَ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿۴۴﴾

دَ دوئ په حق کښے | ړوندوالے دے | هم دا خلق دي | (چه) آواز ورکولے شي دوي ته | له ځائے | لرے نه

په حق کښے ړوندوالے دے، دا هغه کسان دي چه دَ ډير لرے ځائے نه ورته آواز ونه ورکولے شي.

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَاخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا

او بيشکه ورکړے وو مونږ | موسیٰ ته | کتاب | پس اختلاف وکړے شو | په هغے کښے | او که چرے نه وے شوے

او مونږ موسیٰ له هم کتاب ورکړے وو، بيا په هغے کښے هم اختلاف وکړے شو. او که چرے ستا دَ

كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ

يو حکم | له وړاندې نه | ستا دَ رب له طرفه | نو خامخا به فيصله شوے وه | دَ دوئ په مينځ کښے | او بيشکه دوی

رب له طرف نه يوه خبره له وړاندې نه فيصله شوے نهٔ وے نو دَ دوئ معامله به خلاصه شوے وه، او دوئ دَ دے

لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿۴۵﴾ مَّنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ ۖ

په شک کښے (دي) | دَ دے په نسبت | په تردد کښے | څوک چه | عمل وکړي | نيک | نو دَ خپل ځان دَ پاره

کتاب په حقله په شک کښے متردد پراتهٔ دي. څوک چه نيک کار کوي نو خپل ځان له ئے کوي او

وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿۴۶﴾

او څوک چه | بد کار کوي | نو هم په دهٔ دے (دَ هغے وبال) | او نهٔ دے | ستا رب | ظلم کوونکے | په بندګانو

څوک چه بد کار کوي نو تاوان ئے په خپل کوږ دے او ستا رب په خپلو بندګانو زياتے نهٔ کوي

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانہ ترجمہ

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرَٰتٍ

د ده طرف ته | واپس گرځولے شي | علم | د قیامت | او نه راوځي | هیڅ میوه

د قیامت د علم حواله صرف الله تعالیٰ طرف ته ورکیدے شي ، او کومه میوه چه د خپلو غلافونو

مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَيَوْمَ

له خپلو غلافونو نه | او نه حامله کیږي | څوک ښځه | او نه زیږوي ماشوم | مګر د ده په علم | او په کومه ورځ چه

نه راوځي یا کومه یوه ښځه چه حمل اخلي یا چه بچے راوړي نو دا ټول هغه ته معلوم دي او په کومه ورځ

يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَآءِى قَالُوٓا۟ ءَاذَنَّـٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾

آواز به وکړي دوي ته | کوم ځائے دي | زما شریکان ؟ | دوي به ووائي | موږ تا ته عرض وکړو | چه نشته له موږ نه | څوک ګواه .

چه الله آواز وکړي چه (هغه) زما هغه شریکان کوم ځائے دي ؟ دوي به ووائي چه موږ عرض وکړو چه موږ ته هیڅ خبر نشته

وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَدْعُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَظَنُّوا۟ مَا لَهُم

او ورک به شي | له دوي نه | هغه څه | چه دوي به بلل | له دے نه وړاندې | او خیال به کوي | چه نشته دوي ته پاره

او پخوا چه به ئے د کومو معبودانو عبادتونه کول هغه ټول به ترے نه ورک شي ، او پوهه به شي چه اوس د

مِّن مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾ لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَـٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ

څه خلاصے | نه ستړے کیږي | انسان | له غوښتلو | د خیر نه | او که چرے | ورسیږي ده ته

خلاصي ژوګوه نشته . انسان د خیر په دعا غوښتلو نه ستړے کیږي . او که چرے څه تکلیف

ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَـٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا

تکلیف | نو مایوسه | نا اُمیده (شي) | او که چرے | موږ وڅکوو ده ته | رحمت | له خپل طرف نه

ورته ورسیږي نو بیا مایوسه او نا اُمیده شي . او که موږ ورته د خپل رحمت خوند تر ځلے کړو

مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَـٰذَا لِى وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ

پس له دے تکلیف نه | چه رسیدلے وو ده ته | نو دے وائي چه | دا (خو) | زما حق دے | او زه ګمان نه کوم | چه قیامت

د یو داسے مصیبت نه پس چه پرے راغلے وو ، نو بیا وائي چه دا خو زما خپل حق وو ، او زه دا نه ګنړم چه قیامت

قَآئِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّىٓ إِنَّ لِى عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ۚ

به قائم شي | او که چرے | زه بیرته وګرځولے شم | خپل رب طرف ته | بیشکه | ما د پاره | د ده سره به | ښه حالت وي

راتلونکے دے ، که زه هم دخدائے ته واپس ورسولے شوم نو زما به هلته هم ښکلے برخه وي .

فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ

پس موږ به وښایو | هغه خلقو ته | چه منکر دي | هغه څه چه دوئ به کول | او موږ به وڅکوو دوئ ته | یو عذاب

خو موږ به کافرانو ته د هغوئ ټول کارونه (یو په یو) په ګوته کړو ، او د سخت عذاب مزه به ورته

غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَـٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا

ډیر سخت | او هر کله چه | موږ انعام وکړو | په انسان | نو دے مخ واړوي | او بدله کړي

وښایو . او څه وخت چه موږ یو انسان ته نعمتونه وبخښو نو دے مخ واړوي او ده ډډه

بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ۝٥١ قُلْ اَرَءَيْتُمْ

خپله ډډه | او هركله چه ورسيږي دهٔ ته | تكليف | نو دُعا كانے كوى | اُوږدے | وُوايه | آيا كتلى دى تاسو

او جار باسي. او څهٔ وخت چه (بيو ديں) تكليف ور ورسيږي نو اوږدے اوږدے دُعا كانے كوى (اے نبي!) ته ووايه چه ووايه

اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ

كه چرې وى هغه | دَ الله دَ طرف نه | بيا | انكار وكړى تاسو | دَ هغهٔ نه | نو څوك زيات گمراه دے | له هغه چانه | چه وى دے

م پوهه كړئ چه كهٔ دا كتاب دَ الله دَ طرف نه راغلے وى او تاسو ترے انكار وكړى نو دَ هغه سړي نه څوك گمراه به څوك وى چه دومره

فِيْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ۝٥٢ سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ وَفِيْٓ اَنْفُسِهِمْ

په مخالفت كښے | دَ لرے | ويرزر به موږ وښايو دوئ ته | خپلے نخښے | په دُنيا كښے | او دَ دوئ په نفسونو كښے

اوږد مخالفت كښے پروت دى. موږ به دوئ ته خپلے نخښے په خواوُشا دنيا كښے هم وښايو او دَ دوئ په خپل ذات كښے دننه

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ ۭ اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ

تر دے چه | واضحه شي | دوئ ته | چه دا (خبره) | حق دے | آيا كافي نهٔ دے | ستا ربّ

هم، تر دے چه دا به ورته ثابته شي چه دا كتاب حق دے. آيا ستا دَ رب دا خبره كافي نهٔ ده چه

اَنَّهٗ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٥٣ اَلَآ اِنَّهُمْ فِيْ مِرْيَةٍ

چه دے | په هر څيز باندي | گواه دے | واورئ! | يقيناً دوئ | په شك كښے (پراته دي)

هغه پخپله په هر څيز باندې گواه دے. ياد ساته چه دا خلق خپل رب ته دَ مخامخ كيدو

مِّنْ لِّقَاۗءِ رَبِّهِمْ ۭ اَلَآ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ ۝٥٤

دَ ملاقات | دَ ربّ خپل نه | ياد ساته! | بيشكه دے | په هر څيز | احاطه كوونكے دے

په حقله شكمن دى، (خو) ياد ساته چه هغه دَ هر څيز نه راچاپيره دے.

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

سورة شوریٰ په مكه كښے نازل شوے او | شروع كوم دَ الله په نوم چه نهايت مهربان ډير زيات رحم كوونكے دے | په دے كښے ۵۳ آيتونه او ۵ ركوع گانے دى

دَ الله په نوم شروع كوم چه نهايت مهربان دَ ډير زيات رحم خاوند دے

حٰمٓ ۝١ عٓسٓقٓ ۝٢ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ

حٰمٓ | عٓسٓقٓ | دغه شان | وحي كوي | ستا طرف ته | او دَ هغو طرف ته | چه وړاندې له تانه وو

حٰمٓ عٓسٓقٓ دغه شان تاته او ستا نه وړومبنو (پيغمبرانو) ته الله تعالیٰ چه غالب

اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٣ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ

الله | چه ډير زبردست | حكمت والا دے | هم دَ دهٔ دى | څهٔ چه | په آسمانونو كښے | او څهٔ چه | په زمكه كښے دى

دَ حكمتونو خاوند دے وحي رالیږلے ده. ټول دَ دهٔ مال دے هر څهٔ چه په آسمانونو او په زمكه كښے دى

وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝٤ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ

او دے | ډير اُوچت | ډير لوئے دے | نزدے دے | چه آسمانونه | وُچوى | دَ خپل بره نه

او دے ډير اوچت او ډير لوئے دے، كيدے شي چه آسمانونه دَ بره نه راماتے شي

وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ

او فرښتې | تسبیح وائي | تعریف سره د رب خپل | او بخښنه غواړي | د هغه چا د پاره

او فرښتې د خپل رب تسبیح د حمد سره لګیا دي وائي ، او د زمکې د وګړو د پاره

فِي الْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝۵ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

چه په زمکه کښې دي | واورئ ! | بیشکه | الله | هم دے دے | بخښونکے | مهربان | او هغه خلق چه | نیولي ئې دي

بخښنه غواړي ، یاد ساته چه الله تعالیٰ بخښنه کوونکے رحم کوونکے دے . او چا چه د خدائے نه

مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ اللّٰهُ حَفِيْظٌ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَآ اَنْتَ

د ده نه سیوا | دوستان | (هم) الله دے | نګران | په دوی باندې | او نه ئې ته

سیوا څان له نور کارسازي نیولي دي الله هغوئي پخپله وینې ګوري او ته د هغوئي

عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ۝۶ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا

په دوی باندې | ذمه وار | او دغه شان | مونږ وحي وکړه | ستا طرف ته | قرآن | په عربي ژبه کښې

ذمه وار نه یې . او هم دغه شان مونږ تا ته قرآن په عربي ژبه کښې در کړے دے

لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ

چه ته ئې ووېروې | د مکې خلق | او هغه څوک | چه د دې نه چاپېره دي | او ته ئې ووېروې | له ورځې د جمع کېدو نه

چه ته د مکې او د ګېر چاپېره (علاقو) خلق ووېروې ، او د قیامت د ورځې نه ئې ووېروې

لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ ۝۷ وَلَوْ شَآءَ

چه شک نشته په دې کښې | یوه ډله به | په جنت کښې (وي) | او یوه ډله به | په دوزخ کښې (وي) | او که چرې غوښتې

چه د هغې په راتلو کښې هیڅ شک نشته یو ټولے به په جنت کښې او بل به په دوزخ کښې شي . او که الله تعالیٰ ته منظور

اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ

الله | نو ضرور به ئې جوړ کړي وو دوئ | هم یو اُمت | او لیکن | دے داخلوي | هغه څوک چه دے ئې وغواړي

وے نو دوئ ټول به ئې (په زور) په یوه لاره روان کړي وو ، خو هغه چه د چا په حقله وغواړي نو د خپل رحمت

فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝۸ اَمِ

په خپل رحمت کښې | او ظالمان (چه دي) | نشته د دوی د پاره | څوک دوست | او نه څوک مددګار | آیا

(د سورې) لاندې ئې راولي او د ظالمانو هیڅوک ملګرے او مددګار نشته ، آیا

اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ

دوی نیولي دي | د ده نه سیوا | (نور) دوستان | پس هم الله دے | کارساز | او هم دے به | ژوندي کوي

دوی د الله تعالیٰ نه سیوا نور څوک کارسازي څان له نیولي دي ؟ نو د هر چا کارساز (صرف) الله دے او هم دے به

الْمَوْتٰى ۫ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۹ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ

مړي | او دے | په هر څیز باندې | قادر دے | او هغه څه چه اختلاف وکړو تاسو په هغې کښې | د څه څیز

چه مړي ژوندي کوي او هم دے دے چه په هر څیز قادر دے او تاسو چه په کومه خبره کښې اختلاف کوئ

فَحُكْمُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖۗ وَاِلَيْهِ

نو دَ هغې فيصله | الله سره ده | هم دا الله | زما رب دے | هم په ده | توكل كړے دے ما | او دَ ده طرفته

نو دَ هغې فيصله فقط دَ الله په حواله ده. هم دغه الله زما رب دے زهٔ په ده توكل كوم او هم دهٔ ته

اُنِيْبُ ۝۱۰ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ

زهٔ رجوع كوم | پيدا كوونكے | دَ آسمانونو | او دَ زمكے دے | ده جوړے كړے | تاسو دَ پاره

رجوع كوم ، دے دَ آسمانونو او دَ زمكے پيدا كوونكے دے ، هغهٔ تاسو له ستاسو دَ

مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ؕ

خپله له تاسونه | جوړے | او له څاروونه | (هم) جوړے | دے بنوړوى تاسو | په دے كښے

خپل جنس نه جوړے پيدا كړے دى او دغسے په څاروو كښے ئے جوړے سازے كړى دى چه دَ دې په ذريعه ستاسو نسل

لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝۱۱ لَهٗ مَقَالِيْدُ

نشته | په شان دَ ده | څهٔ څيز | او دے | آورېدونكے | بينا دے | ده سره دى | كنجيانے

بنوروى ، دَ دهٔ په شان هيڅوك نشته ، او دے هر څهٔ آورى او هر څهٔ وينى كورى ، دَ آسمانونو او دَ زمكے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ

دَ آسمانونو | او دَ زمكے | دے فراخه كوى | روزى | چا دَ پاره چه | دے وُغواړى | او تنګوى

كنجيانے دَ هغهٔ په اختيار كښے دى. هم دے دَ چا رزق چه وغواړى فراخه كوى او دَ چا چه وُغواړى تنګوى ئے.

اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝۱۲ شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا

بيشكه دے | په هر څيز باندې | پوهه دے | ده مقرر كړل | تاسو دَ پاره | له دين نه | هغه څهٔ

او بيشكه دے په هر څهٔ ښه پوهه دے. (الله تعالىٰ) تاسو دَ پاره هغه دين مقرر كړے دے، دَ كوم

وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ

دَ كوم چه حكم وركړو ده | نوح ته | او هغه څهٔ | چه وحى ئے وكړه مونږ | ستا طرف ته | او دَ كوم حكم چه مونږ وركړو

حكم چه دهٔ نوح ته وركړے وو ، او دَ كوم حكم چه مونږ تا ته دركړے دے او دَ كوم حكم چه مونږ

اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا

ابراهيم | او موسىٰ | او عيسىٰ ته | چه قائم وُساتئ | دين | او اختلاف مهٔ كوئ

ابراهيم ، موسىٰ او عيسىٰ ته وركړے وو (هغه دا دے) چه تاسو په دين باندې قائم وُسيږئ او اختلاف په كښے

فِيْهِ ؕ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ؕ اَللّٰهُ

په دے كښے | ګران ښكارى | مشركانو ته | هغه څهٔ چه | بلئ تاسو دوئ | هغې ته | الله

مهٔ كوئ ، مشركانو ته دا خبره ډيره ګرانه ښكارى كومے ته چه تهٔ هغوئ رابلے. هم الله تعالىٰ

يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ۝۱۳

غوره كوى | خپل ځان ته | هغه څوك چه | ئے وغواړى | او هدايت وركوى | خپل طرف ته | هغه چا ته چه رجوع وكړى

څوك چه وُغواړى (دَ خپلے لارے دَ پاره ئے) غوره كړى ، او هر څوك چه دَ دهٔ طرف ته رجوع كوى هغهٔ ته دَ خپل ځان طرف ته هدايت وركړى

وَمَا تَفَرَّقُوٓا إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا

او جدا جدا نهٔ شول دوی | مګر | پس | له هغې نه چه | راغلے دوی ته | علم | دَ ضد په وجه

او دے خلقو پس له دے نه چه علم دوی ته راغلے وو محض دَ سرکشئ او په خپل مینځ کښے دَ ضد په وجه

بَيْنَهُمْ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى

په خپل مینځ کښے | او که چیرے نهٔ وے | حکم | له وړاندې نه | ستا دَ رب له طرف نه | تر وخت | مقرر پورے

تفرقه پیدا کړه او که ستا دَ رب له طرف نه (دَ مهلت) یوه خبره تر مقرره سیئے فیصله شوے نهٔ وے

لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ أُورِثُوا الْكِتَٰبَ مِنۢ بَعْدِهِمْ

نو فیصله به شوے وه | دَ دوی په مینځ کښے | او بیشکه | کوم خلق چه | وارثان کړے شول | دَ کتاب | پس له دوی نه

نو دَ دوی تر مینځه فیصله به خلاصه شوے وه - او چا ته چه دَ دغے امتونو نه پس کتاب ورکړے شوے دے نو هغوئ دَ دغے

لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿۱۴﴾ فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ ۖ وَاسْتَقِمْ

په شک کښے دی | دَ دے په نسبت | تردد کښے دی | پس دے (دین) طرف ته | دعوت ورکړه | او قائم اوسه

کتاب په حقله شکمن او تردد کښے دی۔ پس ته دوی هم دے (حق دین) طرف ته رابله او لکه څنګه چه درته

كَمَآ أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ ۖ وَقُلْ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ

څنګه چه تا ته حکم شوے دے | او پیروی مهٔ کوه | دَ دوی دَ خواهشاتو | او ووایه | چه ما ایمان راوړو | په هغه څهٔ | چه نازل کړو

حکم شوے دے دغسے (په دعوت) قائم وسیږه او دَ دوی په خواهشونو پسے مهٔ ځه - او ووایه چه الله څومره کتابونه رانازل کړی

ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٍ ۖ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا

الله | کتاب | او ما ته حکم شوے دے | چه زهٔ انصاف وکړم | ستاسو مینځ کښے | الله | زمونږ رب دے

کړی دی ما په هغې ټولو ایمان راوړے دے او ما ته حکم شوے دے چه ستاسو تر مینځه په (همیشه) انصاف کوم۔ الله زمونږ او ستاسو

وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ ۖ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا

او ستاسو (هم) رب دے | مونږ دَ پاره | زمونږ عملونه | او تاسو دَ پاره | ستاسو عملونه | نشته هیڅ جګړه | زمونږ په مینځ کښے

دَ ټولو رب دے او (په آخرت کښے) مونږ دَ پاره زمونږ عملونه او تاسو دَ پاره ستاسو عملونه وی، زمونږ او ستاسو تر مینځه څهٔ بحث

وَبَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿۱۵﴾ وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ

او ستاسو په مینځ کښے | الله | به جمع کړی | مونږ ټول | او هم دَ دهٔ طرف ته | واپس تلل دی | او کوم خلق چه | جګړه کوی

نشته ، الله تعالیٰ به مونږ ټول جمع کړی او هم دَ دهٔ طرف ته واپس تلل دی او هغه خلق چه دَ الله تعالیٰ په باره

فِى ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا ٱسْتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمْ

دَ الله په حقله | پس له هغې نه | چه قبول کړے شو فرمان | دَ دهٔ | حجت دَ دوی | باطل دے | په نزد دَ رب دَ دوی

کښے جګړه کوی دَ دے نه پس چه هغه منلے شوے دے دَ هغوی دلیل دَ رب په نزد باطل دے ، او

وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿۱۶﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ

او په دوی باندې | غضب دے | او دوی دَ پاره | عذاب دے | سخت | هم الله | چا چه | نازل کړو

غضب پرے راتلونکے دے ، او سخت عذاب ورله مقرر دے - الله تعالیٰ هغه ذات دے چه کتاب او

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيْزَانَ ۗ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ ﴿١٧﴾

کتاب | رښتینې | او میزان (هم) | او تاته څهٔ معلومه دهٔ | شاید چه قیامت | نزدے وی

(د انصاف) تلهٔ په حقه رانازل کړل ، او تاته څهٔ معلومه دهٔ شاید چه قیامت نزدے وی.

يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ۚ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ

دوی زر غواړی | هغه | هغه خلق چه | ایمان نهٔ لری | په دے | او کوم خلق چه | ایمان نهٔ لری | دوی ویریږی

کوم خلق چه په دے ایمان نهٔ لری دے دَپاره ئے تلوار جوړ کړے دے او څوک چه ایماندار دی نو هغوی ترے نه

مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهَا الْحَقُّ ۗ اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ يُمَارُوْنَ فِي السَّاعَةِ

له دے نه | او دوی پوهیږی | چه دا | حقیقت دے | واورئ! | بیشکه | کوم خلق چه | جګړے کوی | دَ قیامت په حقله

ویره کوی او دا عقیده لری چه قیامت برحقه دے - یاد ساته ! چه څوک دَ قیامت په حقله جګړے کوی هغوی

لَفِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿١٨﴾ اَللّٰهُ لَطِيْفٌ ۢ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

هغوی په ګمراهئ کښے دی | دَ لرے | الله | مهربان دے | په خپلو بندګانو | دے روزی ورکوی | هغه چاته چه وغواړی

په ډیره غټه ګمراهئ کښے پراته دی. الله تعالیٰ په خپلو بندګانو مهربان دے چاله چه وغواړی نو (فراخه) روزی ورکوی

وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿١٩﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ

او دے | ډیر طاقتور | زبردست دے | څوک | چه غواړی | فصل | دَ آخرت | نو ورله به کړو موږ

او هغه قوی دے زبردست دے . څوک چه دَ آخرت فصلونه غواړی موږ ورله دَ آخرت

لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ

دهٔ دَپاره | فصل دَ هغهٔ | او څوک | چه غواړی | فصل | دَ دُنیا | نو ورله به کړو موږ دهٔ ته

فصلونه ډیروُو او څوک چه دَ دنیا فصلونه غواړی نو موږ ورله دلته څهٔ قدرے

مِنْهَا ۙ وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿٢٠﴾ اَمْ لَهُمْ

له هغے نه | او نهٔ به وی | دهٔ دَپاره | په آخرت کښے | څهٔ حصه | آیا | دوی دَپاره

(کچه) ورکوُو ، او دا سے سړی له به آخرت کښے هیڅ برخه نشته آیا دَ دوی څوک (جوړ

شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللّٰهُ ۗ

(نور) شریکان دی | چه مقرر ئے کړل | دوی دَپاره | له دین نه | هغه څهٔ چه | حکم نهٔ دے ورکړے | دَ هغے | الله

کړی) شریکان شته چه دا سے دین ئے ورله جوړ کړے دے چه خدائے دَ هغے اجازت ورکړے نهٔ دے

وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ

او که چرته نه وے | خبره | دَ فیصلے | نو فیصله به شوے وه | دَ دوی په مینځ کښے | او بیشکه | کوم چه ظالمان دی | هغوی دَپاره

او که (دَ مهلت) فیصله شوے نهٔ وے نو دَ دوی ترمینځهٔ فیصله به خلاصه شوے وه. او ظالمانو له دردناک

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢١﴾ تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا كَسَبُوْا

عذاب دے | دردناک | ته به ووینے | ظالمان | چه ویریږی به | له هغه څهٔ نه | چه دوی کړی دی

عذاب مقرر دے . ته به دا ظالمان ووینے چه دَ خپلو عملونو نه به (په خپله) ویریږی

وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او دا | پریوتونکے دہ | پہ دوی | او هغه کسان چه | ایمان ئے راوړو | او عمل ئے وکړو | نیک

حال دا چه هغه به پرے راپریوزی ، او څوک چه ایماندار دی او د نیکئ کاروونه کوی

فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۗ ذٰلِكَ هُوَ

(دی به) په باغونو کښے | د جنتونو | دوی دپاره به وی | هغه څه | چه دوی ئے غواړی | د خپل رب سره | هم دا دے

هغوی به د جنتونو په باغچو کښے اوسیږی چه څه غواړی نو خپل رب سره به ئے بیا موی ، هم دغه خوئے

الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿٢٢﴾ ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ

فضل | ډیر لوئے | هم دا دے | هغه (فضل) | چه زیرے ئے ورکوی الله | خپلو بندگانو ته | کومو چه

انعام دے ۔ دا هغه انعام دے چه الله تعالٰی ئے خپلو ایماندارو او

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۗ قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا

ایمان راوړو | او عمل ئے وکړو | نیک | ووایه | زهٔ نهٔ غواړم له تاسو | په دے باندے | څهٔ اجر

نیکانو بندگانو ته زیرے ورکوی ۔ (اے پیغمبره!) ته ووایه چه زهٔ تاسو (نوړو) هیڅ بدله نهٔ غواړم خود

اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ۗ وَمَنْ يَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِيْهَا

مگر | محبت | د رشتے | او څوک چه | کوی | نیکی | مونږ زیاتوو دهٔ دپاره | په دے کښے

رشتے مینه محبت درنه غواړم ۔ او څوک چه د نیکئ کاروونه کوی نو مونږ به ورله په کښے نوره نیکی

حُسْنًا ۗ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٢٣﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

نیکی | بیشکه | الله | بخښونکے | قدردان دے | آیا | دوی وائی | چه دهٔ تړلی دی | په الله باندے

زیاتوو ، بیشکه چه الله بخښونکے قدردان دے ۔ آیا دوی وائی چه دے پیغمبر په خدائے دروغ بیات

كَذِبًا ۚ فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ

دروغ | پس که چرے | وغواړی الله | نو مهر به ولگوی | ستا په زړهٔ | او نابودہ به کړی | الله | باطل

تړلے دے ، نو کهٔ خدائے وغواړی نو ستا په زړهٔ به تاپه ولگوی او الله تعالٰی باطل خبرے محوکوی ،

وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ۗ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٢٤﴾ وَ

او ثابتوی | حق | په خپل کلام سره | بیشکه دے | ښهٔ پوهه دے | په راز د سینو | او

او حق خبرے په خپل حکم ثابتے ساتی ، هغهٔ ته د زړونو پټ رازونه په ښهٔ شان معلوم دی ۔ او الله

هُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ

هم دے دے چه | قبلوی | توبه | د خپلو بندگانو | او معاف کوی | بد یانے

والے ذات دے چه د خپلو بندگانو توبے قبلوی او گناهونه ورته معاف کوی

وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٢٥﴾ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

او پوهیږی | په هغه څهٔ چه تاسو ئے کوئ | او (دعا) قبلوی | د هغو چه | ایمان ئے راوړو | او | عملونه ئے وکړل

او تاسو چه څهٔ کاروونه کوئ په هغے باندے خبروی ۔ او د هغو خلقو دعا قبلوی چه ایمان راوړی او نیک کاروونه

الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۭ وَالْكٰفِرُوْنَ لَهُمْ عَذَابٌ

نیک | او زیات ورکوي دوی ته | له خپل فضل نه | او کافران (چه دي) | دوی دپاره | عذاب دے

کوي او په خپل فضل باندې ورله زیات (اجر) ورکوي ، او څوک چه کافران دي هغوئ له سخت عذاب

شَدِيْدٌ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِي الْاَرْضِ

سخت | او که چرے | فراخه کړي | الله | روزي | د خپلو بندګانو | نو خامخا به فساد کولے دوی | په زمکه کښے

مقرر دے ۔ او که الله تعالیٰ خپلو بندګانو له روزي (ډیره) فراخولے نو هغوئ به په دُنیا کښے شرارتونه کول، لیکن

وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ۭ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌ

لیکن | دے نښکته رالیږي | په اندازه | هغه څه چه دے یے غواړي | بیشکه دے | د خپلو بندګانو نه | ښه خبردار دے

الله تعالیٰ خو په یو اندازه څومره چه دے یے غواړي روزي ښکته رالیږي، بیشکه دے د خپلو بندګانو نه خبردار (او) هر څه

بَصِيْرٌ ﴿٢٧﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ

هر څه وینې | او دے هغه ذات دے چه | راوروي | باران | پس له دے نه | چه دوی نا اُمیده شي | او خوروي

وینکوری ، او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه د خلقو د نا اُمیدئ نه پس باران راوروي ، او خپل رحمت

رَحْمَتَهٗ ۭ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ

خپل رحمت | او دے دے | کارساز | ستائیلے شوے | او | د ده له نخښو نه دي | پیدا کول

خوروي او هغه د هر چا کارساز د تعریفونو قابل دے ۔ او د الله تعالیٰ په قدرتونو کښے د آسمانونو او د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ ۭ وَهُوَ

د آسمانونو | او د زمکے | او هغه څه | چه خوارۀ کړي دي | په دے کښے | ساه والا څیزونه | او دے

زمکے پیدا کول دي ۔ او کوم د ساه څیزونه چه په دے دواړو (زمکه آسمان) کښے خوارۀ کړي دي ، او هغه چه

عَلٰي جَمْعِهِمْ اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿٢٩﴾ وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ

په جمع کولو د دوی | هر کله چه | دے یے وغواړي | قدرت لري | او هغه څه | چه ورسیږي تاسو ته | له مصیبت نه

کله وغواړي نو د دوئ په راجمع کولو قادر دے ۔ او تاسو ته چه هر څه مصیبت در رسي ، نو

فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴿٣٠﴾ وَمَآ

پس په وجه د هغه | چه کړي دي | لاسونو ستاسو | او دے معاف کوي | ډیر (ګناهونه) | او نۀ

د خپل عمل د لاسه په در رسي ، او ډیر ګناهونه خو درته (الله) معاف کوي ۔ او تاسو

اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ښ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

یئ تاسو | عاجزه کوونکي | په زمکه کښے | او نشته دے | تاسو دپاره | سیوا | د الله نه

هغه د زمکے په مخ باندې عاجزه کولے نۀ شئ ، او د الله تعالیٰ نه سیوا ستاسو هیڅوک ملګرے

مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٣١﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿٣٢﴾

څوک کارساز | او نۀ څوک مددګار | او د ده له نخښو نه دي | جهازونه | په دریاب کښے | په شان د غرونو

یا مدد ګار نشته ۔ او د هغه په نخښو کښے یو نخښه ستاسو) جهازونه دي چه د غرونو په شان په سمندر کښے روان وي

إِن يَشَأْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ

که وغواړي | نو وبه دروي | هوا | نو شي به هغه | ولاړې | په شا (سطح) د دوي | بېشکه | په دې کښې

که هغه وغواړي نو باد ودروي نو د سمندر په سینه به په ځای ولاړې پاتې شي ، په دې کښې د

لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾ أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا۟

نخښې دي | د پاره د هر | صبر کوونکي | شکر کوونکي | یا تباه کړي دوی | په سبب د هغه څه | چه کول به دوی

هر صابر شکرګذار بنده د پاره نخښې پرتې دي یا (که وغواړي نو) د دوی د عملونو په سبب د جهازونه تباه

وَيَعْفُ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٤﴾ وَيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا

او معاف کوي هم | ډېر | او پوهه دِ شي | هغه خلق چه | جګړې کوي | زمونږ په آیتونو کښې

کړي او ډېر په کښې (بیا هم) معاف کړي او چه هغه خلقو ته معلومه شي څوک چه زمونږ په آیتونو کښې جګړې راوباسي چه

مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٣٥﴾ فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَىْءٍ فَمَتَٰعُ

نشته دوی د پاره | هیڅ خلاصې | پس هغه څه | چه درکړې شول تاسو ته | له څه څیز نه | پس لږ سامان دې

اوس هغوی له هیچېرته خلاصې نشته . غرض دا چه څه چه تاسو له درکړې شوي دي هغه تش د دنیا

ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ

د ژوند | د دنیا | او کوم (اجر) | چه الله سره دې | هغه غوره دې | او ډېر پائېدار دې | د پاره د هغه کسانو

ساز سامان دې او الله تعالیٰ سره چه څه دي هغه د دې نه ډېر غوره او باقي پاتې کېدونکي دي دا (نعمتونه) د

ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ

چه ایمان ئې راوړو | او په خپل رب باندې | توکل کوي | او کوم خلق چه | ځان ساتي | له لویو

هغه چا د پاره دي چه ایمان راوړي او په خپل رب باندې توکل کوي او څوک چه د لویو لویو ګناهونو او د بې شرمۍ

ٱلْإِثْمِ وَٱلْفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا۟ هُمْ يَغْفِرُونَ ﴿٣٧﴾

ګناهونو نه | او له بې حیایونه | او هر کله چه | غصه کښې راشي | نو دوی معاف کوي .

د خبرو نه ځان بچ ساتي ، او هر کله چه هغوی ته غصه راشي نو معاف کوي .

وَٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمْرُهُمْ

او کوم خلق چه | حکم مني | د خپل رب | او | قائموي | مونځ | او د دوی کار دې

او څوک چه د خپل رب حکم مني ، او د مونځ پابندي ساتي او هر کار په خپل

شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ

مشوره کول | په خپل مینځ کښې | او له هغه څه نه | چه ورکړي مونږ دوی ته | دوی خرڅ کوي | او هغه خلق چه | هر کله

مینځ کښې په مشورې سره ترسره کوي او مونږ چه څه ورکړي دي د هغې نه خرڅ کوي او دا هغه خلق دي چه ظلم

أَصَابَهُمُ ٱلْبَغْىُ هُمْ يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَٰٓؤُا۟ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۖ

ورسېږي دوی ته | ظلم | نو دوی | بدله اخلي . | او بدله | د بدۍ | بدي ده | په شان د هغې

زیاتې پرې وکړې شي نو د برابرۍ بدله اخلي . او د بدۍ بدله (بد سره) هغې غوندې بد کول دي

فَمَنْ عَفَا وَاَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

پس څوک چه | معاف وکړی | او اصلاح وکړی | نو د دهٔ اجر | په الله دے | بیشکه دے | نهٔ خوښوی

نو څوک چه معاف ورکړی او اصلاح وکړی نو د هغهٔ اجر د الله تعالیٰ په ذمه دے ، بیشکه ظالمان د الله تعالیٰ خوښ

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ

ظالمان | او خامخا څوک چه | بدله واخلی | خپل ځان باندې ظلم نه پس | پس هم دادی | نشته | په دوی باندې

نهٔ وی . او څوک چه د ظلم کیدلو نه پس د هغې هومره بدله واخلی نو په دغه کسانو هیڅ

مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤١﴾ ؕ اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ

څهٔ الزام | بیشکه | الزام (خو) | په هغه خلقو باندې دے | چه ظلم کوی | په خلقو باندې

الزام نشته ، الزام خو بس په هغه چا راځی چه په خلقو باندې زیاتے کوی او

وَيَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

او فساد کوی | په زمکه کښے | په ناحقه | هم دادی | چه دوی د پاره | عذاب دے

بر ناحقه په ملک کښے فساد خوروی ، دا سے خلقو له دردناک عذاب مقرر

اَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿٤٣﴾

دردناک | او هغه کس چه | صبر ئے وکړو | او معاف ئے وکړه | بیشکه | دا | ډیر لهٔ همّت د کارونو نه دے .

دے . او څوک چه صبر وکړی او معاف ورکړی ، نو دا ډیر د همّت کار دے .

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى

او هغه کس | چه گمراه ئے کړی | الله | پس نشته | د دهٔ | څوک کارساز | پس له دهٔ نه | او ته به وُوینے

او کوم سړے چه الله گمراه کړی نو د دهٔ نه پس د هغهٔ د پاره بل هیڅوک کارساز نشته او ظالمان

الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ

ظالمان | هر کله چه | دوی وُوینی | عذاب | (نو) وائی به | آیا | د واپس تلو (ره هم)

به درته ښکاره شی څهٔ وخت چه عذاب ووینی نو دا وینا به کوی چه آیا (دُنیا ته) د واپس تلو هم

مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤٤﴾ ۚ وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ

څهٔ لار (شته) ؟ | او ته به ووینے دوی | چه دوی به مخامخ کولے شی | په دے دوزخ | ټیټ شوی

څهٔ صورت شته ؟ او ته به دغه کسان په داسے حال کښے وُوینے چه دوزخ ته به مخامخ کولے شی ، د ذلت په وجه

مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

له ذلت نه | دوی به گوری | په کتنے پټے | او وائی به | هغه کسان چه | ایمان ئے راوړے دو

به سر ټیټی ولاړ وی په نیم ځویله ستړگو به کتل کوی . او ایماندار خلق به وائی چه

اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ

بیشکه | نقصان موندونکی | هغه خلق دی | چه نقصان ئے ورکړو | خپلو ځانونو ته | او خپل کورونو ته

واقعی په تاوان کښے هغه څوک پاتے شول چه خپل ځانونه او خپل بال بچ ئے د قیامت په ورځ

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِىْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ۝۴۵ وَمَا كَانَ

په ورځ د قیامت | واوره ! | بیشکه | ظالمان خلق به | په همیشه عذاب کښې وی | او نه به وی

په خساره کښې واچول ، یاد ساته ! چه بیشکه ظالمان به همیشه په عذاب کښې پراته وی . او د هغوی به

لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ

دوی د پاره | څوک دوستان | چه مدد ورکړی دوی ته | سیوا | د الله نه | او څوک چه | ګمراه کړی

د الله تعالیٰ نه سیوا هیڅوک مددګار نه وی چه د هغوی امداد وکړی . او څوک چه الله تعالیٰ ګمراه

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ؕ ۝۴۶ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ

الله | پس نشته | ده د پاره | څه | لار | قبول کړئ | د خپل رب (حکم) | وړاندې له دے نه

کړی نو هغه له (د هدایت) هیڅ لار نشته . تاسو د خپل رب حکمونه ومنئ د دے نه وړاندې چه هغه

اَنْ يَّاْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ

چه | راشی | هغه ورځ | چه نشته واپس کیدل د هغې | د الله د طرف نه | نه به وی تاسو د پاره | هیڅ د پناه ځائے

ورځ راشی چه د الله تعالیٰ د طرف نه به هیڅوک بچ کیدے نه شی ، په هغه ورځ به تاسو چرته پناه موندے

يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ۝۴۷ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ

په دغه ورځ | او نه به وی تاسو د پاره | څه انکار | بیا که چیرے | دوی مخ واړوی | نو نه یو لیږلے موږ ته

نه شئ او نه به (د فیصلے منلو نه) انکار کولے شئ . نو که اوس هم دوی مخ واړوی نو موږ په دوی باندې ته

عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ اِنْ عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاِنَّاۤ اِذَاۤ اَذَقْنَا

په دوی باندې | نګهبان | نه دی | په تا باندې | مګر | پیغام رسول | او بیشکه | هرکله چه | موږ وڅکوو

څه نګران مقرر کړے خو نه یئ . ستا په ذمه خو صرف (حکمونه) رسول دی . او موږ چه یو انسان ته د

الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢ

انسان ته | له خپل طرف نه | رحمت | نو خوشحاله شی | په هغے | او که چیرے | ورسیږی دوی ته | څه بدی

خپلے مهربانئ خوند ورکړو نو هغه په هغے باندې ځان ته غاوره شی او که چیرے خلقو ته د هغوی د

بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ ۝۴۸

په وجه د هغه څه | چه وړاندې لیږلی دی | لاسونو د دوی | نو بیشکه | انسان | ډیر ناشکره دے

خپلو بدو عملونو په وجه څه تکلیف ورسیږی نو هم دغه انسان ناشکری شروع کړی .

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ يَهَبُ

الله د پاره دے | حکومت | د آسمانونو | او د زمکے | دے پیدا کوی | څه چه وغواړی | دے عطا کوی

د آسمانونو او د زمکے بادشاهی یوازے د الله تعالیٰ ده ، دے چه څه غواړی پیدا کوی ئے ، چا له چه

لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ۝۴۹ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ

چا ته چه | وغواړی | جینکۍ | او عطا کوی | چا ته چه | وغواړی | هلکان | یا جمع کوی د پاره د دوی

غواړی نو لونړه ورته ورکوی ، او چا له چه غواړی نو ځامن ورته ورکوی . یا ورله ځامن او لونړه

ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ۗ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ

هلكان | او جینكۍ | او كوي دے | څوك چه | وغواړي | شنډ | بیشكه دے | پوهه

جوړے جوړے وركوي او د چا په حقله چه وغواړي نو شنډ ئے كړي ، هغه په هر څۀ پوهه دے قدرت لرونكے

قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا

قدرت والا دے | او ممكن نۀ دي | یو انسان د پاره | چه | كلام وكړي د هٔ سره | الله | مګر | په وحی سره

خاوند دے . او د هیڅ بشر دا مرتبه نشته چه الله تعالیٰ د ورسره خبرے وكړي خو یا دا چه الهام ورته وكړي

اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ

یا | د ورو ستو | له پردے نه | یا راولیږي | (څوك) پیغمبر | پس چه وحی وكړي | د دهٔ په حكم

او یا د پردے شاته ، یا یو فرښته راولیږي نو هغه ورته د الله په حكم دا سے وحی راوړي

مَا يَشَآءُ ۗ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿۵۱﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

څۀ چه ئے وغواړي | بیشكه دے | ډیر اوچت | د حكمت خاوند دے | او د غه شان | مونږ وحی راولیږله | تا ته

څۀ چه د الله مرضي وي الله ډیر اوچت دے د حكمتونو خاوند دے او د غسے مونږ تاته (دا) وحی یعنی خپل حكم

رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ۗ مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ

یو روح (قرآن) | په خپل حكم | نۀ پوهیدلے ته | چه څۀ دے | كتاب | او نۀ ایمان ؟

رالیږلے دے ، تاته معلومه نه وه چه كتاب څۀ څیز دے او ایمان څۀ ته وائي؟

وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ

او لیكن | وګرځوله مونږ دا | رڼا | چه مونږ وركوو هدایت | په دے سره | چا ته چه | مونږ وغواړو | له خپلو بندګانو نه

لیكن مونږ دا (كتاب) نور جوړ كړے دے او د دے په ذریعه مونږ په خپلو بندګانو كښے چا ته چه غواړو هدایت وركوو

وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۲﴾ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا

او بیشكه ته | هدایت كوے | سمے لارے طرف ته | د الله د لارے | د چا چه دی | هغه څۀ

او په دے كښے هیڅ شك نشته چه ته سمے لارے طرف ته هدایت كوے (یعنی) د هغه الله تعالیٰ لاره چه د آسمانونو

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ ﴿۵۳﴾ ع ۵ / ٦

چه په آسمانونو كښے دی | او هغه څۀ | چه په زمكه كښے دی | یاد ساته ! | طرف د الله ته | بیرته ورځي | كارونه

او د زمكے د ټولو څیزونو مالك دے ، یاد ساته چه ټولے معاملے به الله تعالیٰ ته پستنه ورځي.

سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تِسْعٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سوره زخرف په مكه كښے نازل شوه او | (شروع) كوم په نوم د الله چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم كوونكے دے | په دے كښے ۸۹ آیتونه او ۷ ركوع دي

د الله په نوم شروع كوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے.

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ مع

حٰمٓ | قسم دے په كتاب | ښكاره | بیشكه | مونږ جوړ كړو دا | قرآن | په عربئ ژبه كښے | چه تاسو

حٰمٓ په دے واضحه كتاب باندے قسم دے . مونږ دا د عربئ ژبے قرآن (په دے غرض) جوړ كړے دے چه تاسو

تَعْقِلُوْنَ ۚ﴿۳﴾ وَاِنَّهٗ فِیْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَیْنَا لَعَلِیٌّ حَكِیْمٌ ﴿۴﴾ؕ

پوهه شئ | او بیشکه هغه | په اصل کتاب کښې دے | موږ سره | ډا اوچت مرتبه | حکمت والا

پرے پوهه شئ . او بیشکه دا (قرآن) موږ سره په لوح محفوظ کښې دے ډا اوچت مرتبه او د حکمت نه ډک دے

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِیْنَ ﴿۵﴾

نو آیا موږ به لرے کړو | له تاسو نه | دا ذکر | په اړولو سره | په دې چه | یئ تاسو | خلق | حد نه تیریدونکی

آیا موږ به تاسو نه دا (د) نصیحت (کتاب) په دې خبره واړوو چه تاسو د مناسب حد نه وړاندې تیریدونکی یئ؟

وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِیٍّ فِی الْاَوَّلِیْنَ ﴿۶﴾ وَمَا یَاْتِیْهِمْ مِّنْ نَّبِیٍّ اِلَّا

او څومره | لیږلی موږ | پیغمبران | په وړومبو امتونو کښې | او نه به راتلو دوی ته | څوک پیغمبر | مګر

او موږ په مخکنو خلقو کښې څومره ډیر پیغمبران رالیږلی دی ؟ او دغه خلقو ته یو پیغمبر داسے نه دے راغلے

كَانُوْا بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۷﴾ فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰی

هغه پورے به دوی توقے کولے | پس موږ هلاک کړل | چه زیات وو | له دوی نه | په طاقت کښې | او تیر شو

چه هغوی ورپورے ملنډے کړے نه وی او موږ هغه ټول کسان برباد کړل کوم چه د دې خلقو نه زورآور وو او د مخکنو خلقو مثال

مَثَلُ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۸﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

مثال | د مخکنو خلقو | او که چرے | تپوس وکړے ته له دوی نه | چه چا | پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه

(څوک څومره) د هغے سلوک شوے دے . او (اے نبی!) که ته ترے نه تپوس وکړے چه (دا) آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی؟

لَیَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِیْزُ الْعَلِیْمُ ﴿۹﴾ۙ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ

نو دوی به ضرور وائی | چه پیدا کړل دوی | ډیر زبردست | پوهه | چا چه | جوړه کړه | تاسو د پاره

نو دوی به خامخا وائی چه دا زبردست او ښه پوهه (خدائے) پیدا کړی دی . هغه (خدائے) چه زمکه ئے درته

الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِیْهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰﴾ۚ

زمکه | فرش | او جوړے ئے کړے | تاسو د پاره | په دې کښې | لارے | چه تاسو | لار بیا مومئ

فرش جوړه کړے ده . او په دے کښے ئے درته لارے جوړے کړی دی چه تاسو مطلب ته ورسیږئ .

وَالَّذِیْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً

او چا چه | نازل کړے | له آسمان نه | اوبه | په اندازه | بیا ژوندے کړو موږ | په دې سره | ښار

او (الله) هغه ذات دے چه د برره نه ئے په اندازه اوبه راورولے . نو بیا موږ په هغے باندې مړه زمکه راژوندۍ

مَّیْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَالَّذِیْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا

مړ | هم دغه شان به | را ویستلے شئ تاسو | او چا چه | پیدا کړے | جوړے | ټولے

کړه . هم دغسے به تاسو (د قبرونو نه) را ویستلے شئ . او (الله) هغه ذات دے چه ټول څیزونه ئے جوړے پیدا کړی دی

وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿۱۲﴾ۙ

او جوړے ئے کړے | تاسو د پاره | کشتۍ | او څاروی | په کوم چه | تاسو سوریږئ .

او تاسو له ئے کشتۍ او څاروی پیدا کړی دی . چه تاسو پرے سورلئ کوئ .

لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا

چه تاسو کښینئ | په شاګانو د هغې | بیا تاسو یاد کړئ | نعمت | د رب خپل | هر کله چه

د پاره د دې چه تاسو د هغې په شا ښه ټینګ کښېنئ او (څه وخت) چه ورباندې سواره شئ نو د الله تعالیٰ نعمت

اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِىْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا

تاسو سم کښینئ | په هغې باندې | او ووایئ تاسو | پاک دے | هغه ذات چا چه | تابع کړله | مونږ د پاره | دا

را یاد کړئ ، او دا ووایئ چه هغه ذات پاک دے چه دا ئے (غټ غټ) څیزونه ئے زمونږ تابع کړی دی

وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾

او نه وو مونږ | د دې | په قابو کښے راوستو والا | او بیشکه مونږ | طرف د رب خپل ته | واپس کرځیدونکی یو .

ګنې مونږ خو (په خپل همت) دا قابو کولے نه شول . او مونږ به خامخا خپل رب ته پسته ورځو .

وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ ؑ ع ۷ ۱۵

او دوی مقرر کړو | الله د پاره | د ده له بندګانو نه | یو جز | بیشکه | انسان | ناشکره دے | ښکاره .

او دوئ د الله په بندګانو کښے هغه له یو جزو مقرر کړے دے . واقعه دا ده چه انسان ښکاره ناشکره دے .

اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّاَصْفٰىكُمْ بِالْبَنِيْنَ ﴿۱۶﴾

آیا ده نیولی دی | له هغه څه نه | چه دے پیدا کوی | لونړه | او تاسو ئے غوره کړی یئ | ځامن

آیا هغه د خپل مخلوق نه ځان له (هیڅ بیله) لونړه خوښے کړے او تاسو ئے د ځامنو د پاره غوره کړئ

وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا

او هر کله چه | زیرے ورکولے شی | یو ته له دوی نه | د هغه (جینۍ) | کوم چه ده جوړه کړه | د (الله) رحمٰن | هم جنس

او حال دا دے چه څه وخت دوئ په هغه څیز خبر کړے شی کوم چه دوئ رحمٰن (خدائ) له ستا یلے دے .

ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۱۷﴾ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِى الْحِلْيَةِ

نو شی | مخ د ده | تور | او دے | له غم نه ډک شی | آیا څوک چه | پاللے کیږی | په کالو کښے

نو مخ ئے خړ شی . او ډیر زیات غمژن شی ، آیا څوک چه په ډول سنګار کښے ساتلے شی

وَهُوَ فِى الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿۱۸﴾ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ

او هغه | په جګړه (بحث) کښے | غیر واضح وی | او مقرر ے کړے دوی | فرښتے | کومے چه دی

او په جګړه کښے صفا واضح دلیل وئیلے نه شی (هغه د نارینه سره برابر کیدلے شی؟) او دوئ فرښتے چه د الله تعالیٰ بندګانے دی

عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ؕ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ؕ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ

بندګانے | د رحمٰن | ښځے | آیا دوی حاضر وو | په وخت د پیدا ښت د دوی | و به لیکلے شی | د دوی ګواهی

زنانه ګرځولے دی ، نو آیا دوئ ورته د پیدا ښت په وخت کښے موجود وو ؟ د دوئ دا دعوے لیکلے شی

وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ

او له دوی نه به پوښتنه وکړے شی | او دوی وائی | که چیرے غوښتے | رحمٰن | نو مونږ به د دے (بتانو) عبادت نه وو کړے

او پوښتنه به ترے نه کیږی . او دوئ وائی چه که خدائے غوښتلے نو مونږ به د دے (فرښتو) عبادت نه کولو .

مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْ

نشته دوی ته | دَ دې خبرې | هېڅ علم | نه دي دوی | مګر | فرضي خبرې جوړوي | آيا

دوی ته دَ حقيقت نه هېڅ خبر نه دی خو په اټکل باندې روان دي آيا موږ

اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوْٓا

ورکړې ده موږ دوی ته | کتاب | له دې نه وړاندې | چه دوی | هغه | په مضبوطۍ سره نيونکي دي | (نه) بلکه | دوی وائي

دې خلقو ته دَ دې نه وړاندې څه کتاب ورکړې دے چه دوی دَ هغې سند پيش کوي؟ نه . بلکه دوی

اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢٢﴾

بېشکه موږ بيا موندلي | پلاران خپل | په يو دين باندې | او بېشکه موږ | دَ دوی دَ قدمونو په نخښو | لار موندونکي يو

وائي چه موږ خپل پلار نيکه په يوه لاره روان موندلي وو او اوس موږ په هغوی پسې روان يو .

وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ

او دغه شان | نه دې ليږلے موږ | له تا نه وړاندې | په هيڅ کلي کښې | څوک وېروونکے | مګر | ووئيل

او دغه شان موږ له تا نه وړاندې په يو کلي کښې څوک وېروونکے نه دے ليږلے چه هغه ته دَ هغه کلي

مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ

دَ دې خوشحاله خلقو | چه بېشکه موږ بيا موندلي | پلاران خپل | په يو دين | او بېشکه موږ | دَ دوی دَ قدمونو په نخښو باندې

خوشحاله خلقو دا نه وي وئيلي چه موږ خپل پلار نيکه هم په دې يو طريقه باندې موندلي وو او (اوس) موږ په هغوی پسې

مُّقْتَدُوْنَ ﴿٢٣﴾ قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ

روان يو | ده ووئيل | آيا اګر که | ما راوړے وي تاسو ته | دَ ډېر سمې لارې | چه موندلي دي تاسو په هغې باندې

روان يو . پيغمبر به ورته ووئيل چه اګر که ما درته دَ هغې نه غوره لاره پيش کړې وي چه تاسو پرې خپل پلار نيکه

اٰبَآءَكُمْ ۗ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٢٤﴾ فَانْتَقَمْنَا

پلاران خپل | دوی ووئيل | بېشکه موږ | په هغه څه | چه را ليږلے شوي يئ تاسو په هغې | انکار کوو | پس انتقام واخستو موږ

موندلي وو هغوی به ورته ووئيل چه (بيا هم) موږ ستاسو پيغام قبلولو نه انکاريان يو . نو موږ ترې نه بيا له

مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَاِذْ قَالَ

له دوی نه | پس وګوره | څنګه | شو | انجام | دَ دروغ ګڼړونکو | او هر کله چه | ووئيل

واخستو ، نو ته وګوره چه دَ دروغ ګڼړونکو انجام څه شو ؟ او څه وخت چه ابراهيم

ع ٨

اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٦﴾ اِلَّا

ابراهيم | خپل پلار | او خپل قوم ته | بېشکه زه | بېزاره يم | له هغه څه نه | چه تاسو يې عبادت کوئ | سيوا

خپل پلار ته او خپل قوم ته ووئيل چه زه ستاسو دَ معبودانو نه بېزاره يم . سيوا دَ

الَّذِيْ فَطَرَنِيْ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً

دَ هغه ذات نه | چه پيدا کړم زه | نو بېشکه هم هغه به | ژر زر ما ته لار ووښائي | او کړلو الله هغه | يو کلمه | باقي پاتې کېدونکې

دَ هغه ذات نه چه زه يې پيدا کړے يم پس هم هغه به ژر ما ته سمه لاره وښائي ، او هغه دا (دَ توحيد) خبره په خپل اولاد کښې باقي پاتې

فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ

دَ دهٔ په اولاد کښې | شايد چه دوی | رجوع وکړی | بلکه | ما فائده ورسوله | دوی ته | او د دوی پلارانو ته

په بیهوده د پاره د دې چه اُلټهٔ هم خلق (د شرکه) پسته ګرځی. حمهٔ خبره داده چه ما دوی او د دوی پلارانو ته ډیر ډیر

حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُولٌ مُبِينٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَاءَهُمُ

تر دې چه | راغی دوی ته | حق (دین) | او پیغمبر | ښکاره | او هر کله چه | راغی دوی ته

سامانونه ورکړی وو تر دې چه ربښتینی (قرآن) او صفا وینا کوونکی پیغمبر ورته راغی. او کله وخت چه ورته ربښتینی (قرآن)

الْحَقُّ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِ كَافِرُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالُوا لَوْلَا

حق | نو دوی ووئیل | چه دا | جادو دے | او بیشکه مونږ | له دې نه | انکار کوونکی یو | او دوی وائی | ولې نه

راغی، نو دوی ووئیل چه دا خو جادو دے او مونږ خو دا نهٔ منو. او وائی ووئیل چه دا

نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾

نازل کړے شو | دا | قرآن | په یو سړی باندې | له دې دوو کلو نه | چه لوئے وی.

قرآن د دې دواړو (لویو) کلو په یو لوئے سړی باندې ولې رانازل نه شو؟

أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ

آیا دوی تقسیموی | رحمت | د رب ستا | مونږ تقسیم کړے ده | د دوی په مینځ کښې | د دوی روزی

آیا دوی ستا د رب رحمت تقسیمول غواړی. هم مونږ د دوی روزی په دُنیا کښې د دوی

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ

په ژوند د دنیا کښې | او اوچت کړی دی مونږ | ځینې د دوی | په ځینو باندې | په مرتبو کښې | چه ونیسی

په مینځ کښې تقسیم کړے ده، او مونږ ځینو له په ځنو کسانو باندې مرتبې اوچتې کړی دی چه یو تن د بل

بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾

ځینی له دوی نه | ځینی | خدمت ګار | او رحمت | ستا د رب | غوره دے | له هغه نه | چه جمع کوی دوی

سړی نه کار واخلی. او ستا د رب رحمت د هغه مال نه ډیر غوره دے کوم چه دا خلق راجمع کوی

وَلَوْلَا أَنْ يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَجَعَلْنَا لِمَنْ

او که چرته نه وے (دا خبره) | چه شی به | خلق | یوه ډله | نو خامخا به جوړ کړی وو مونږ | د پاره د هغه چا

او که دا خبره نه وے چه ټول خلق به په یوه طریقه شی، نو مونږ به د رحمٰن

يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِنْ فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا

چه انکار کوی | د رحمٰن | د دوی د کورونو | چتونه | د سپینو زرو | او پارسنګونه (هم) | چه په هغې

(خدائے) منکرانو له د کورونو چتونه د سپینو زرو جوړ کړی وو، او پوړۍ چه په هغې به

يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا

دوی پاس خیژی | او د دوی د کورونو | دروازے | او تختونه (هم) | چه په هغې | دوی ډډے لګوی | او د سرو زرو هم

ورختل. او د هغوی د کورونو دروازے او تختونه چه په هغې به ئے ډډے وهلے او د سرو زرو نه هم.

وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ

اونه دي دا ټول | مګر لږ سامان | د ژوند د دنیا دي | او آخرت (خو) | ستا د رب په نزد

او دا ټول څیزونه هیڅ هم نه دي ، دا خو د ځو ورځو کامیابي ده او آخرت ستا د رب په نزد پرهیزګارو دپاره

لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٥﴾ وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ

د پرهیزګارو دپاره دي | او څوک چه | غافل شي | د رحمان د ذکر نه | مونږ مقرروو

دي . او څوک چه د رحمن د ذکر نه غفلت اختیار کړي نو مونږ ده د پاره

لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿٣٦﴾ وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ

ده د پاره | یو شیطان | نو هغه | د ده | ملګرے (شي) | او بیشکه شیطانان | منع کوي دوي

یو شیطان مقرر کړو پس هغه هر وخت د هغهٔ سره وي او بیشکه هغوي ئې د سمے لارے

عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٣٧﴾ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَنَا

د لارے نه | او دوي ګمان کوي | چه دوي | سمه لار موندونکي دي | تر دے چه | هرکله چه راشي مونږ ته

نه منع کوي . او دوي خیال کوي چه (ګني) په سمه لاره روان دي . تر دے چه دا سړے مونږ ته راورسي نو

قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ

نو وائي به | اے کاش ! | چه په مینځ زما کښے | او په مینځ ستا کښے | لرے والے د مشرق او د مغرب وے | پس بد

(دے شیطان ته) به وائي چه اے کاش! زما او ستا تر مینځه د مشرق او د مغرب فاصلے وے ته څومره خراب

الْقَرِيْنُ ﴿٣٨﴾ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اِذْ ظَّلَمْتُمْ اَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ

ملګرے یئې ته | او هیڅ کله به فائده درنه کړي تاسو ته | نن | هرکله چه ظلم کړے دے تاسو | چه تاسو | په عذاب کښے

ملګرے یئې . او نن به درته دا خبره هیڅ فائده درنه کړي ځکه چه کفر مو کړے دے نن به ټول په عذاب

مُشْتَرِكُوْنَ ﴿٣٩﴾ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ اَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَنْ كَانَ

ټول شریک یئې | نو آیا ته | آورولے شے | کڼرو ته | یا ته ښودلے شے لاره | ړندو ته | او هغه چا ته چه | دي

کښے شریک یئې . نو آیا کڼرو ته خپل آواز اورولے شے ؟ یا ړندو ته لار ښودلے شے او هغه چا ته چه په

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٠﴾ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿٤١﴾

په ښکاره ګمراهئ کښے | بیا که چرے مونږ بوځو | تا (د دنیا نه) | نو بیشکه مونږ | له دوي نه | انتقام اخستونکي یو

ښکاره ګمراهئ کښے پراته دي . نو که مونږ تا د دے دنیا نه اوچت کړو نو بیا هم د دے کافرو نه خو به بدله اخلو او یا که تا ته

اَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِيْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَيْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿٤٢﴾

یا مونږ تا ته وښایو | هغه (عذاب) | چه وعده ئے کړے ده مونږ د دوي سره | نو بیشکه مونږ | په دوي باندې | قدرت لرونکي یو

هغه عذاب وښایو د کوم چه مونږ د دوي سره وعده کړے ده نو مونږ په دوي باندې هر څنګه پوره قدرت لرو .

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْٓ اُوْحِيَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٤٣﴾

پس منګولے ولګوه | په هغه څه چه | وحی ئے کولے شي | ستا طرف ته | بیشکه ته | په سمه لاره یئې .

نو ته په دے قرآن باندې قائم او سیږه چه تا ته رالیږلے شوے دے ، بیشکه ته په سمه لاره باندې قائم یئې .

وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَسْـَٔلْ

او بیشکه دا | یو نصیحت دے تا دپاره | او ستا دقوم دپاره | او ژر دے چه | له تاسو نه تپوس وکړے شي | او تپوس وکړه

او بیشکه دا (قرآن) تا دپاره او ستا قوم دپاره ویرینه نصیحت دے او ژر دے چه تاسو نه تپوس کیږي. او ته د هغه

مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ

له هغه چا نه چه لیږلي دي مونږ | له تا نه وړاندې | له خپلو پیغمبرانو نه | آیا مونږ جوړ کړي وو | سیوا | د رحمٰن نه

پیغمبرانو نه تپوس وکړه چه مونږ له تا نه وړاندې رالیږلي دي چه آیا مونږ د رحمٰن نه سیوا نور معبودان

اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ﴿٤٥﴾ ع وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ

نور معبودان | چه عبادت ئے کیدے شي | او بیشکه | مونږ رالیږلے وو | موسیٰ | د خپلو نخښو سره | فرعون ته

ټاکلي دي چه د هغوی عبادت دې کولے شي. او مونږ (له تا نه وړاندې) موسیٰ له خپلو نخښو ورکړے او فرعون او د هغه سردارانو

وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ اِنِّيْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا

او د هٔ د سردارانو طرفته | نو دهٔ ووئیل | بیشکه زهٔ | پیغمبر | د پروردګار | د عالمونو یم | بیا هر کله چه

ته مو رالیږلے وو نو هغهٔ ورته ووئیل چه زهٔ د رب العٰلمین رسول یم. بیا چه موسیٰ ورته

جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرِيْهِمْ

هغه راغے دوی ته | زمونږ د نخښو سره | نو ناګهانه دوی د دغه نخښو پورې | خندا کولے کوله | او نهٔ ښودله مونږ دوی ته

زمونږ ورکړے نخښے پیش کړے نو هغوی ورپورے خندا کولے شروع کړے. او مونږ چه په ورته کومه

مِّنْ اٰيَةٍ اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا ۡ وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ

هیڅ نخښه | مګر هغه (به وه) | لویه | له ورو مبئ نخښے نه | او ونیول مونږ دوی | په عذاب سره

نخښه ښودله نو هغه به د بلے نه غټه وه، او مونږ دغه خلق په عذاب کښے راونیول

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ

شاید چه دوی | رجوع وکړي | او دوی ووئیل | اے جادوګره! | دعا وکړه | مونږ دپاره | د خپل رب نه

چه هغوی (د خپلو حرکتونو نه) منع شي. او هغوی ووئیل چه اے جادوګره! ته مونږ دپاره خپل رب ته دعا وکړه

بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ

چه دهٔ وعده کړے ده | تاسره | بیشکه مونږ خو | لاره موندونکي یو | بیا هر کله چه | لرې به کړو مونږ | له دوی نه

د کوم څیز چه هغهٔ تاسره وعده کړے ده نو مونږ به ضرور سمے لارے ته راواوړو ، نو بیا چه مونږ ترے نه عذاب

الْعَذَابَ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ

عذاب | نو ناګهانه به | دوی | وعده ماتوله | او اواز وکړو | فرعون | په خپل قوم کښے

لرے کړو نو هغوی (په هغه ساعت) خپل لوظ مات کړو. او فرعون په خپل قوم کښے اعلان وکړو

قَالَ يٰقَوْمِ اَلَيْسَ لِيْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِيْ

دهٔ ووئیل | اے زما قومه! | آیا نهٔ دے | ما دپاره | حکومت د مصر | او دا | نهرونه | چه بهیږي

او) دا ئے ووئیل چه اے زما قومه! آیا د مصر سلطنت زما نهٔ دے؟ او دا ټول نهرونه چه زما د بنګلو

مِنْ تَحْتِیْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۟ؕ ﴿٥١﴾ اَمْ اَنَا خَیْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِیْ هُوَ

زما لاندې | پس ایا تاسو نهٔ ګورئ؟ | بلکه زهٔ | ورین‌ټه یم | له هغه سړی نه | چه دے

لاندې نه بهیږی؟ نو ایا تاسو دا نهٔ وینئ؟ بلکه زهٔ د دے سړی (یعنی موسیٰ) نه ډیر غوره یم چه د ده هیڅ

مَهِیْنٌ ۙ۬ وَّ لَا یَكَادُ یُبِیْنُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَاۤ اُلْقِیَ عَلَیْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ

بے قدر دے | او هغه واضح خبره هم نهٔ شی کولے | نو ولے ونهٔ | غورزولے شول | په ده باندې | باهوګان | د سرو زرو

قدر نشته . او چه سمے واضح خبره هم نهٔ شی کولے؟ نو ده له د سرو زرو باهوګان ولے اچولے شوی نهٔ دی

اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِیْنَ ﴿٥٣﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ

یا راغلی | د ده سره | فرښتے | جمع کړے شوے | پس ده بے وقوف جوړ کړو | خپل قوم

یا فرښتے ورسره ولے قطار قطار راغلے نهٔ دی؟ دغه شان ده خپل قوم بے وقوفه جوړ کړو

فَاَطَاعُوْهُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِیْنَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّاۤ اٰسَفُوْنَا

نو دوی د ده اطاعت وکړو | بیشکه دوی | وو | خلق نافرمانه | بیا هر کله چه | دوی مونږ غصه کړو

نو د هغهٔ په خبرو کښے راغلل. بیشکه هغوی نافرمانه خلق وو. بیا هر کله چه هغوی مونږ ناراضه کړو

انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِیْنَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّ مَثَلًا

نو بدله واخسته مونږ | له دوی نه | بیا غرق کړل مونږ دوی | ټول | بیا جوړ کړل مونږ دوی | پیشوایان | او نمونه

نو مونږ د هغوی نه انتقام واخستو بیا مونږ هغوی ټول غرق کړل . نو د نورو (راتلونکو) خلقو د پاره مشران او د عبرت

لِّلْاٰخِرِیْنَ ﴿٥٦﴾ وَ لَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْیَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ

د وروستنو خلقو د پاره | او | هر کله چه | بیان کړے شو | د ځوئے د مریم | مثال | نو ناګهانه قوم ستا

نمونے مو کړل او کله وخت چه د بی بی مریم د ځوئے مضمون واوروے شو نو غوږ کوروچه ستا قوم په دے باندې

مِنْهُ یَصِدُّوْنَ ﴿٥٧﴾ وَ قَالُوْۤا ءَاٰلِهَتُنَا خَیْرٌ اَمْ هُوَ ؕ مَا ضَرَبُوْهُ

د دے پورے (په خوشحالئ) چغے وهی | او دوی ووئیل | آیا معبودان زمونږ | ښهٔ دی | یا عیسیٰ؟ | بیان نهٔ کړو دوی دا مثال

(د خوشحالئ نه) چغے وهل شروع کړل . او وے وئیل چه آیا زمونږ معبودان غوره دی یا هغه (یعنی عیسیٰ)؟ دوی دا خبره محض

لَكَ اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿٥٨﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ

تا ته | مګر په طریقه د جګړے | بلکه | دوی | خلق دی | جګړه مار | نهٔ دے دا (عیسیٰ) | مګر بنده دے

د جګړے په غرض کړے ده بلکه دا خلق هسے هم جګړه مار دی . عیسیٰ خو (معبود نهٔ وو) زمونږ یو (نیک) بنده

اَنْعَمْنَا عَلَیْهِ وَ جَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ ﴿٥٩﴾ وَ لَوْ نَشَآءُ

چه انعام کړے دے مونږ | په ده | او جوړ کړو مونږ دے | یو مثال | بنی اسرائیلو د پاره | او که چیرے | مونږ غوښتے

وو چه مونږ پرے فضل کړے او هغه مو د بنی اسرائیلو د پاره (د خپل قدرت) نمونه جوړه کړے وه او که چرے مونږ غوښتے

لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً فِی الْاَرْضِ یَخْلُفُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَ اِنَّهٗ لَعِلْمٌ

نو پیدا کړے به وے مونږ | له تاسو نه | فرښتے | چه په زمکه کښے به | دوی خلیفه وے | او بیشکه دے | یوه نخښه ده

نو تاسو نه به مو فرښتے (پیدا کړے وے) چه په زمکه باندې به یو بل پسے اوسیدے . او عیسیٰ په قیامت باندې د یقین راوستلو

٥ع ١١

لِلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾

دَ قیامت | پس تهٔ شک مهٔ کوئ | دَ دې په بارکښې | او زما پیروی کوه | هم دا دهٔ | لاره | سمه

ذریعه ده نو تاسو په دې حقله شک مهٔ کوئ او په ما پسې روان شئ ، دا سمه نیغه لار ده ۔

وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٢﴾ وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ

او منع دې نهٔ کړي شي تاسو | شیطان | بیشکه دے | ستاسو | دُښمن دے | ښکاره | او هر کله چه | راغے | عیسیٰؑ

او شیطان دې تاسو (په دې حقله لارې نه تلو نه) هیڅ کله منع نه کړي بیشکه هغه ستاسو ښکاره دُښمن دے. او څهٔ وخت چه عیسیٰؑ ښکاره

بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ

دَ معجزو سره | نو ده ووئیل | چه ما راوړې دے تاسو ته | حکمت | او چه واضحه کړم | تاسو باندې | ځنې

نخښې راوړې نو خلقو ته یې ووئیل چه تاسو له زهٔ دَ حکمت خبرې راوړې دي او څکه (راغلے یم) چه تاسو ته ځنې خبرې صفا

الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٦٣﴾ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ

هغه (خبرې) | چه تاسو اختلاف کوئ | په هغې کښې | پس ووېرېږئ | دَ الله نه | او ومنئ زما حکم | بیشکه | هم الله

کړم چه تاسو په کښې اختلاف کوئ نو دَ الله نه ووېرېږئ او زما خبرې ومنئ ۔ بیشکه الله زما هم

رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦٤﴾ فَاخْتَلَفَ

زما رب | او ستاسو رب دے | پس عبادت کوئ دَ دهٔ | هم دا دهٔ | لاره | سمه | پس اختلاف وکړو

رب دے او ستاسو هم رب دے نو تاسو دَ هغهٔ عبادت کوئ هم دا سمه نیغه لار ده ۔ نو بیا (په دې پسې هم)

الْأَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ

ډېرو جماعتونو | په خپل مینځ کښې | پس تباهي ده | هغو خلقو دَ پاره | چه ظلم یې وکړو | له عذاب نه

مختلفو ډلو په خپل مینځ کښې اختلاف پیدا کړو ۔ نو ظالمانو خلقو له دَ دردناکې ورځې دَ عذاب دَ لاسه (غمونه) تباهي

يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَنْ تَأْتِيَهُمْ بَغْتَةً

دَ ورځې | دردناکې | دوئ انتظار نهٔ کوي | مګر صرف دَ قیامت | چه را په شي دوئ ته | ناګهانه

پرته ده ۔ دا خلق بس دَ قیامت دَ ورځې انتظار کوي چه ناګهانه ورته راشي

وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ

او دوئ به | خبر نهٔ وي | ټول دوستان به | په دغه ورځ | دَ یو بل

او دوئ پرې خبر هم نهٔ وي ټول دوستان به په دغه ورځ دَ یو بل دښمنان

عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ

دښمنان وي | سیوا | دَ پرهیزګارو نه | اے زما بندګانو! | نشته | څهٔ وېره | په تاسو باندې

شي سیوا دَ پرهیزګارو خلقو نه ۔ اے زما بندګانو! نن ورځ په تاسو هیڅ وېره

ع ۱۱

الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾ الَّذِينَ آمَنُوا بِآيٰتِنَا وَكَانُوا

نن ورځ | او نهٔ به | تاسو | غمژن شئ | کومو خلقو | چه ایمان راوړو | زمونږ په آیتونو | او دوی وو

نشته او نهٔ به دربانې څهٔ غم راځي ، دا هغه کسان دي چه زمونږ په آیتونو باندې یې ایمان راوړے وو او زمونږ

مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾

مسلمانان | داخل شئ | جنت ته | تاسو | او ستاسو ښځې | چه عزت به درکولے شي.

فرمان ئې شوے وو . تاسو هم او ستاسو بیبیانې هم جنت ته خوشحاله خوشحاله ورننوزئ .

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ ۚ وَفِيْهَا مَا

گرځولے به شي | په دوی باندې | رکيبئ | د سرو زرو | او گلاسونه (هم) | او په هغې کښې به وی هغه څه

په هغې کښې به د سرو زرو د رکیبو او گلاسونو دور چلیږي . او هغه ټول څیزونه به

تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ وَاَنْتُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۷۱﴾

چه غواړي ئې | نفسونه | او چه ښه لگی | په سترگو | او تاسو به | په دے کښې | همیشه یئ.

ورکیدے چه څه ئې زړه غواړي او سترگے پرے خوشحالیږي او تاسو به پکښې تل تر تله وسیږئ .

وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾

او دا دے | هغه جنت | د کوم چه | تاسو وارثان جوړ کړے شوئ | په بدله (د هغه عملونو) | چه تاسو به کول .

او دا هغه جنت دے چه تاسو د خپل عمل په سبب د هغې مالکان کړے شوئ

لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۳﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ

تاسو د پاره | په دے کښې | میوه دی | ډیرے | چه له دے نه به | تاسو خورئ | بیشکه | گناهگاران به

په دے کښې تاسو د پاره ډیر قسمه میوے دی چه خوراک وله به ترے نه کوئ نافرمانه خلق به همیشه په

فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۷۴﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيْهِ

په عذاب کښې | د دوزخ | همیشه وی | نه به شي سپکولے | له دوی نه | او دوی به | په هغې کښې

دوزخ کښې پراته وی . عذاب به ترے نه سپکولے نه شي او مایوسه به پکښې

مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۶﴾

مایوسه پراته وی | او مونږ په دوی ظلم ونه کړو | او لیکن | دوی وو | ظالمان

پراته وی او مونږ پرے هیڅ ظلم نه دے کړے خو دوی په خپله (د ځان د پاره) ظالمان وو

وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۗ قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿۷۷﴾

او آواز به وکړي | اے مالک (نوم فرښتے) | کار دې تمام کړي | زمونږ | ستا رب | دے به ووائي | بیشکه تاسو | همیشه اوسیدونکي یئ

او دوی به آواز وکړي چه اے مالکه ! ستا رب دې زمونږ د ژوند نه خلاص کړي هغه به ووائي تاسو به همیشه دلته پراته یئ .

لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَمْ اَبْرَمُوْٓا

مونږ راوړے وو تاسو ته | حق دین | او لیکن | اکثرو بعضو تاسو | د حق نه | نفرت کونکو | آیا دوی کلک قصد کړے دے

مونږ تاسو ته رښتینے دین راوړے وو خو په تاسو کښې اکثر خلق د حق دین نه بیزاره شول آیا دوی خپل (ځان له)

اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ اَمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ

د یو کار | پس بیشکه مونږ هم | کلک قصد کونکی یو | آیا دوی خیال کوی | بیشکه مونږ | نه اورو | راز د دوی

بند و بست کړے دے ؟ نو مونږ ورته هم خپل انتظام د کړ سالکے دے آیا د دوی دا خیال دے چه مونږ د دوی پټه او تر کوشي خبرے

وَنَجْوٰىهُمْ ؕ بَلٰى وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ۞ ٨٠ قُلْ اِنْ كَانَ

او دَ دوی مشوره | ولې نه | او زموږ لیږلي شوي (فرښتې) | دوی سره | لیکي | ته ووایه | که چیرې وي

نه اورو ؟ ولې نه ! حالانکه زموږ لیږلي (فرښتې) دوی سره دي چه لیکل کوي (اے نبیﷺ!) ووایه که چیرې د رحمان

لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ ۖ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ۞ ٨١ سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ

د رحمان | څه اولاد | پس زه به | د ټولو نه وړومبے | (د هغه) عبادت کوونکے وم | پاک دے | رب | د آسمانونو

(خدائے) اولاد وے نو د ټولو نه وړاندې ما به د هغه عبادت کولو ، پاک دے د آسمانونو او د زمکے

وَالْاَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۞ ٨٢ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا

او د زمکے | مالک | د عرش | له هغه څه نه | چه دوی ئے بیانوي | پس پریږده دوی | چه مشغول وي

رب د عرش مالک د هغه ټولو خبرو نه چه دوی ئے بیانوي ، نو دوی په خپلو شغلونو او په لوبو کښے پرېږده

وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ۞ ٨٣ وَهُوَ الَّذِيْ

او لوبې کوي | تردے چه | ملاقات وکړي | دوی هغه ورځ | د کومے چه | دوی سره وعده کولے شي | او دے | هغه ذات دے چه

پرېږده تر دے چه هغه ورځ راشي د کومے چه دوی سره وعده شوے ده . او الله هغه ذات دے چه

فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ۞ ٨٤

په آسمان کښے (هم) | معبود دے | او په زمکه کښے (هم) | معبود دے | او هم دے دے | حکمت والا | علم والا

په آسمان کښے هم معبود دے او د زمکے په مخ هم معبود دے او دے د حکمتونو خاوند دے په هر څه پوهه دے .

وَتَبٰرَكَ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ

او ډیر بابرکت دے | هغه ذات چه | د ده دپاره | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکے | او د هغه څه چه | د دوارو په مینځ کښے دي

او الله ډیر بابرکته ذات دے چه د آسمانونو او د زمکے او د دواړو ترمینځه د څیزونو بادشاه دے .

وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۞ ٨٥ وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ

او هم ده سره دے | علم | د قیامت | او هم د ده طرف ته | به تاسو واپس کړے شئ | او اختیار نه لري | هغه کسان چه

او ده ته (د) قیامت (وخت) معلوم دے او تاسو ټول به ورته پستنه ورځئ . او دوی چه د الله تعالیٰ نه سیوا

يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ

دوی ئے عبادت کوي | سیوا له ده نه | د سفارش | مګر | هغه څوک | چه ګواهي ورکړي وي | د حق | او دوی

د کومو معبودانو عبادت کوي هغوي د سفارش کولو هیڅ اختیار نشته خو هغه ! چا چه د حق خبرے اقرار کړے وي او په هغے

يَعْلَمُوْنَ ۞ ٨٦ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ

پوهیږي | او که چیرے | ته تپوس وکړے له دوی نه | چه چا | پیدا کړل دوی | نو ضرور به وائي دوی | الله

یقین لرلے وي . (نو هغوي به شفاعت کولے شي) او که ته د دوی نه تپوس وکړے چه تاسو چا پیدا کړي یئ ؟ نو ضرور به وائي چه الله (پیدا کړي

فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۞ ٨٧ وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۞ ٨٨ وقف لازم

نو بیا کوم خوا | دوی اړولي روان دي | او قسم د ګوینا | چه اے زما ربه ! | چه بیشکه دا داسے | خلق دي | چه ایمان نه راوړي

یو) نو بیا کوم خوا دوی اړولي روان دي او الله ته (د رسول) دا وینا هم معلومه ده چه اے ربه ! دا داسے خلق دي چه په هیڅ وجه ایمان نه راوړي .

فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ؕ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۸۹ ع

پس مخ واړوه | له دوی نه | او ووایه | سلام دے | پس زر به | دوی پوهه شي

نو (اے نبیﷺ!) ته د دوی نه مخ واړوه او ورته ووایه چه زهٔ درته سلام کوم نو زر ده چه حقیقت به ورته معلوم شي.

سُوْرَةُ الدُّخَانِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورهٔ دخان په مکه کښې نازل شوې ده او په دې کښې ۵۹ آیتونه او درې رکوع دي | شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

حٰمٓ ۱ ۚ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۲ ۙ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

حٰمٓ | قسم دے په کتاب | واضحه | بیشکه موږ | نازل کړے دا | په شپه | مبارکه کښې

حٰمٓ - په دے واضحه کتاب باندې قسم دے. موږ دا کتاب په یوه برکتی شپه کښې نازل کړے دے.

اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ۳ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ۴ ۙ اَمْرًا

بیشکه موږ یو | ویروونکی | په دے کښې | فیصله کولے شي | د هر | کار | حکمت والا | په وحی کولو سره

بیشکه موږ (له عذابه) ویروونکی یو. په دے شپه کښې هر د حکمت معامله زموږ په حکم سره فیصله کیږي، (او دا) حکم زموږ

مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ۵ ۚ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

له طرفه خپل نه | بیشکه موږ یو | رالیږونکی | په سبب د رحمت | ستا د رب | بیشکه هم دے

د بارګاه نه جاري کیږي ولے چه هم موږ رالیږونکی یو. دا ستا د رب مهرباني ده بیشکه هغه هر څهٔ

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۶ ۙ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ

آوریدونکے | پوهه دے | رب دے | د آسمانونو | او د زمکے | او څه چه | د دې دواړو په مینځ کښې دي | که چرې یئ تاسو

آوري په هر څهٔ پوهه دے، د آسمانونو او د زمکے او د دے ترمینځهٔ د څیزونو رب دے که تاسو پرے

مُّوْقِنِيْنَ ۷ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ رَبُّكُمْ وَرَبُّ

یقین کوونکي | نشته هیڅ معبود | سیوا د دهٔ نه | چه ژوندي کوي | او مړه کوي | رب دے ستاسو | او رب دے

یقین راوستل غواړئ د هغهٔ نه سیوا هیڅوک د عبادت لائق نشته هم هغه ژوندي کوي او مرګ راولي، ستاسو او ستاسو د پلارانو

اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ۸ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ۹ فَارْتَقِبْ يَوْمَ

ستاسو د پلارانو | پخوانو | بلکه | دوی | په شک کښې دي | لوبے کوي | نو ته انتظار کوه | د هغه ورځے

نیکونو هم او رب دے. لیکن دا خلق خو په شک کښې پراته دي په لوبو کښې اخته دي. نو د هغه ورځے انتظار

تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ۱۰ ۙ يَّغْشَى النَّاسَ ؕ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۱۱

چه را به وړي | آسمان | لوګے | ښکاره | چه پټ به کړي | خلق | هم دا دے | عذاب | دردناک

کوه چه د آسمان د غاړے نه یو ښکاره لوګے ښکاره شي. چه په خلقو به راخور شي، دغه به ډیر دردناک عذاب وي

رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ۱۲ اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى

اے زموږه ربه! | لرے کړه له موږ نه | دا عذاب | بیشکه موږ | ایمان راوړونکي یو | کوم ځائے دے | دوی د پاره | نصیحت

اے زموږ ربه! زموږ نه دا عذاب لرے کړه، موږ به ایمان راوړو. دوی کله نصیحت قبلوي؟

وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ

حال دا دے چه راغلے وو دوی ته | یو رسول | ښکاره | بیا دوی مخ واړولو | له هغه نه | او وے وئیل | دا ته ښودل شوے دے

حال خو دا دے چه واضح بیان کوونکے پیغمبر ورته راغلے دے. نو دوی ترے نه مخ وګرځولو او دا ئے ووئیل چه دا ته زده کړه شوے

مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَآئِدُونَ ﴿١٥﴾

لیونے دے | بیشکه مونږ | لرے کوونکی یو | د عذاب | لږ ساعت | بیشکه تاسو | بیا راګرځیدونکی یئی.

لیونے دے. مونږ به دا عذاب څه لږ موده له لرے کړو ، خو تاسو به خپل زوړ حالت ته وګرځئ.

يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ ۚ إِنَّا مُنْتَقِمُونَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا

په کومه ورځ چه | نیول به وکړو مونږ | نیول | ډیر سخت | بیشکه مونږ | انتقام اخستونکی یو | او بیشکه امتحان کړے وو مونږ

په کومه ورځ چه به مونږ ډیر سخت نیول کوو مونږ به خامخا بدله اخلو او مونږ د دوی نه

قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنْ أَدُّوا

له دوی نه وړاندې | د قوم | د فرعون | او راغے دوی ته | پیغمبر | عزتمند | چه | حواله کړئ

وړومبے د فرعون قوم آزمائیلے وو او هغوی ته یو عزتمند پیغمبر راغلے وو. چه د خدائے

إِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ۖ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ وَأَنْ لَّا تَعْلُوا

ما ته | بندګان د الله | بیشکه زه | تاسو د پاره | یو رسول یم | امانتدار | او دا چه | تاسو سرکشی مه کوئ

بندګان ما ته حواله کړئ ، زه تاسو ته رالیږلے شوے امانت دار پیغمبر یم . او دا چه تاسو د الله تعالیٰ په مقابله

عَلَى اللّٰهِ ۚ إِنِّي آتِيكُمْ بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٩﴾ وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي

د الله خلاف | بیشکه زه راغلے یم تاسو ته | په دلیل | ښکاره سره | او بیشکه زه | پناه غواړم | د رب خپل

کښے سرکشی مه کوئ ، زه تاسو ته یو څرګند دلیل پیش کوم ، او بیشکه زه ستاسو او د خپل رب پناه

وَرَبِّكُمْ أَنْ تَرْجُمُونِ ﴿٢٠﴾ وَإِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ﴿٢١﴾

او د رب ستاسو | (له دے نه) چه تاسو سنګسار کړئ ما | او که چرے | تاسو ایمان نه راوړئ | زما (په خبره) | نو له ما نه جدا شئ.

غواړم له دے خبرے نه چه تاسو ما سنګسار کړئ او که چرے تاسو په ما ایمان نه راوړئ نو زما نه بیرته په ډډه شئ.

فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هٰؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿٢٢﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِي

نو دۀ دعا وکړه | خپل رب ته | چه دا خلق | مجرمان دی | پس بوځه | بندګان زما

بیا موسیٰ خپل رب ته دعا وکړه چه دا خو ډیر غټ مجرمان خلق دی ، نو حکم وشو چه اے موسیٰ ! ته زما بندیان د

لَيْلًا إِنَّكُمْ مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾

په وخت د شپے | بیشکه ستاسو | تعاقب به کولے شی | او پریږده | سمندر | په قلار | بیشکه دوی | لښکر دے | ډوبیدونکے.

شپے شپے (د معلوم) او پاسه تعاقب به در پسے کیږی او دریاب غلے په قلار پریږده ، د دوی ټول لښکر به ډوبیږی

كَمْ تَرَكُوا مِنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَّزُرُوعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾

څومره | دوی پریښودل | باغونه | او چینے | او فصلونه | او محلونه | ښائسته

نو دغه خلقو څومره باغونه او چینے پریښودے ؟ او فصلونه او ښه ښائسته محلونه.

وَّنَعْمَةٍ كَانُوْا فِيْهَا فٰكِهِيْنَ ۝٢٧ كَذٰلِكَ ۖ وَاَوْرَثْنٰهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ۝٢٨

او نعمتونه | چه وو به دوی په هغه کښې | مزه اخستونکی | دغه شان | او موږ وارث کړو د هغه | یو بل قوم

او د آرام سامانونه چه دوی به پکښې اوسیدل . هم دغسې وُشوه او موږ یو بل قوم د هغه ټولو څیزونو مالک کړو

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ ۝٢٩ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا

پس ونه ژړل | په دوی باندې | آسمان | او زمکې | او نه په دوی ته مهلت ورکولې شی | او موږ نجات ورکړو

نو نه خو پرې آسمان او زمکې ژړا وُکړه او نه ورته مهلت ورکړې شو . او موږ بنی اسرائیل

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ۝٣٠ مِنْ فِرْعَوْنَ ۚ اِنَّهٗ كَانَ

بنی اسرائیلو ته | له عذاب | سپکوونکی نه | (یعنی) د فرعون نه | بیشکه هغه | وو

د سپکوونکی عذاب نه خلاص کړل . یعنی د فرعون نه هغه ډیر سرکش وو

عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ۝٣١ وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝٣٢

سرکش | له حد نه تیریدونکو نه | او بیشکه موږ غوره کړی وو دوی | په پوهه سره | په عالمونو باندې

د حد نه وړاندې تیریدونکی وو او موږ په خپل علم سره بنی اسرائیلو له په ټول مخلوق باندې فضیلت ورکړو .

وَاٰتَيْنٰهُمْ مِّنَ الْاٰيٰتِ مَا فِيْهِ بَلٰٓـؤٌا مُّبِيْنٌ ۝٣٣ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ

او موږ ورکړې دوی ته | نخښې | چه په هغه کښې وو | آزمیښت | ښکاره | بیشکه | دا خلق

او موږ هغوی له داسې نخښې ورکړې وې چه پکښې واضح آزمیښت وو . بیشکه دا (کفار)

لَيَقُوْلُوْنَ ۝٣٤ اِنْ هِيَ اِلَّا مَوْتَتُنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُنْشَرِيْنَ ۝٣٥

وائی | نه ده دا | مگر زموږ مرګ | وړومبی | او نه به یو موږ | راپاڅولی شوی

وائی چه بس دغه د دنیا مرګ (زموږ آخری انجام) دې او بیا به نه راژوندی کیږو .

فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٣٦ اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ

پس راولئ | زموږ پلار نیکه | که چرې یئ تاسو | رښتینی | آیا دوی | غوره دی | یا

نو که تاسو پیغمبران رښتینی یئ نو زموږ پلاران نیکونه راواپس کړئ - آیا (په قوت او طاقت کښې) دا خلق بهتر دی یا

قَوْمُ تُبَّعٍ ۙ وَّالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ ۖ اِنَّهُمْ كَانُوْا

قوم | د تُبّع | او هغه خلق | چه له دوی نه وړاندې وو | موږ هلاک کړل دوی | بیشکه دوی | وُو

د تُبّع قوم او هغه خلق چه له دوی نه وړاندې تیر شوی دی ، موږ دغه ټول هلاک کړل ، بیشکه هغوی ټول

مُجْرِمِيْنَ ۝٣٧ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

مجرمان خلق | او نه دی پیدا کړی موږ | آسمانونه | او زمکه | او څه چه | د دې دواړو په مینځ کښې دی

مجرمان وو او موږ آسمانونه او زمکه او څه چه د دې دواړو په مینځ کښې دی

لٰعِبِيْنَ ۝٣٨ مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٣٩

لوبه کوونکی | موږ نه دی پیدا کړی دا دواړه | مگر | د حکمت لاندې | او لیکن | اکثر په دوی کښې | نه پوهیږی .

بې کاره نه دی جوړ کړی ، موږ دا دواړه په ډیر حکمت پیدا کړی دی لیکن په دوی کښې اکثر نه پوهیږی .

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيقَاتُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى

بیشکه | ورځ | د فیصلې | د دوی وعده ده | د ټولو | په کومه ورځ چه به | په کار نه راځي | څوک دوست

بیشکه چه د فیصلې ورځ د دې ټولو مقرره نیټه ده؛ په دغه ورځ به هیڅ یو دوست د بل

عَنْ مَوْلًى شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَنْ رَحِمَ اللَّهُ

د بل دوست | هیڅ هم | اونه به دوی ته | امداد ملاویږي | مګر | په چا چه | رحم وکړو | الله

دوست هیڅ په کار نه راځي او نه به ئې امداد کیږي مګر په چا چه الله تعالیٰ رحم وکړی

إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾ إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ

بیشکه هم دے | غالب | مهربان دے | بیشکه | ونه | د زقوم | طعام

بیشکه هغه ډیر زبردست دے مهربان دے. بیشکه د زقوم ونه به د ګناهګارو

الْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾ كَالْمُهْلِ يَغْلِي فِي الْبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ الْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾

د ګناهګارو دے | په شان د ویلې شوے تانبے | جوش به وهي | په خیټو کښې | په شان د جوشیدو | د ګرمو اوبو

خوراکه وي، لکه ویلې شوے تانبه. په ګیډو کښې به (هم دغه شان) یشیږي لکه ګرمې اوبه چه یشیږي.

خُذُوهُ فَاعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَاءِ الْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ

ونیسئ دے | بیا را کاږئ دے | د دوزخ مینځ پورے | بیا | واچوئ | د ده د سر د پاسه

(حکم به وشي) دے راونیسئ او د دوزخ مینځ ته ئې راکاږئ. بیا ورله په سر باندې تکلیف رسوونکے

مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا

عذاب | د یشیدو اوبو | وڅکه | بیشکه ته | لوئے یې | قدرمند یې | بیشکه دا دی

ګرمې اوبه توئے کړئ. (او به ویلې شي) د ډګوند واخله ته خو ډیر عزتمند او درونډ سړے وے! . دا هغه عذاب

مَا كُنْتُمْ بِهِ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾

هغه څه چه په هغې کښې | تاسو شک کولو | بیشکه | پرهیزګاران به | په ځائے | د امن کښې وي

دے چه تاسو به د دې په حقله شکمن وئ. بیشکه پرهیزګار خلق به د امن په ځائے کښې دیره وي.

فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلْبَسُونَ مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ

په باغونو کښې | او چینو کښې | اغوندي به | له باریکو ریښمونه | او د پیړو ریښمونه

په باغونو او په چینو کښې به (ناست) وي. د ریښمو نرئ او غټ جامې به اغوندي، یو بل ته

مُتَقَابِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ

یو بل ته مخامخ به وي | هم دغه شان (به وي) | او مونږ به بیبیانې جوړې کړو د دوی | حورے | د غټو سترګو والا | دوی به راغواړي

مخامخ به ناست وي؛ دا خبره هم دغسې ده او مونږ به ورته سترګې پیښې د غټو غټو سترګو میرمنې ښځې واده کړو

فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا

په دے کښې | د هر قسم | میوے | په امن سره | نه به څکي | هلته | (مزه) د مرګ | سیوا

هر رنګ میوے به په اطمینان راغواړي. د دنیا د وړومبني (تیرشوي) مرګ نه بغیر بل

الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ ۚ وَوَقٰهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا

دَ وړومبي مرګ نه | او (الله) به وساتي دوی | له عذاب | دَ دوزخ نه | دا به فضل وي

مرګ به نه وي ، او الله تعالیٰ به ئې دَ دوزخ دَ عذاب نه بچ کړي . دا ټول ستا دَ

مِّنْ رَّبِّكَ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ

ستا دَ رب | هم دا ده | هغه | کامیابي | ډیره لویه | پس بیشکه | آسان کړو مونږ قرآن

رب فضل دے او هم دغه غټه کامیابي ده . نو مونږ دا قرآن ستا

بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَارْتَقِبْ إِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

ستا په ژبه کښې | بنا ئیږي چه دوی | نصیحت حاصل کړي | پس ته انتظار کوه | بیشکه دوی هم | انتظار کوونکي دي

په ژبه آسان کړے دے چه دوئي نصیحت قبول کړي نو ته هم انتظار کوه او دوئي هم انتظار کوي

سُورَةُ الْجَاثِيَةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سَبْعٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ | وَّثَلٰثُونَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوعَاتٍ

سورة جاثیه په مکه کښې نازل شوې په | شروع کوم په نوم دَ الله چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے په کښې ۳۷ آیتونه او ۴ رکوع دي

دَ الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿٢﴾

حٰمٓ | نازل کړے شوے دے | دا کتاب | له طرفه دَ الله | چه ډیر زبردست | حکمت والا دے

حٰمٓ دَ دے کتاب نازلیدل دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دي چه زبردست دے دَ حکمتونو خاوند دے .

إِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٣﴾ وَ فِي خَلْقِكُمْ

بیشکه | په آسمانونو کښې | او په زمکه کښې | نخښې دي | دَ ایمان والو دَ پاره | او | ستاسو په پیدا وښت کښې

په آسمانونو او زمکه کښې دَ ایماندارو خلقو دَ پاره ډیرے نخښې دي - او په خپله ستاسو او دَ دے

وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوقِنُونَ ﴿٤﴾ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ

او څه چه هغه خوروي | له ځناورو نه | نخښې دي | دَ پاره دَ هغه قوم چه یقین کوي | او په تلو راتلو | دَ شپې

ځناورو په پیدا وښت کښې دَ یقین خاوندانو له ډیرے نخښې پرتے دي - او دَ شپے ورځے په پرله پسے

وَالنَّهَارِ وَمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ فَأَحْيَا

او دَ ورځے کښې | او په هغه څه کښې | چه نازل کړے دے | الله | له آسمان نه | رزق (اوبه) | بیا ئې ژوندۍ کړه

تګ راتګ کښې او په هغه روزۍ کښې چه الله تعالیٰ دَ آسمان نه راکوزه کړه نو زمکه ئې پرے

بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُونَ ﴿٥﴾

په دې سره | زمکه | پس له مړه کیدلو دَ هغې نه | او په ګرځیدلو | دَ بادونو کښې | نخښې دي | عقلمندانو دَ پاره

دَ اوچیدو نه پس بیا را ژوندۍ کړه او دَ بادونو په اوړیدو راوړیدو کښې دَ هوښیارانو دَ پاره ډیرے نخښې دي

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ فَبِأَيِّ

دا | آیتونه دي | دَ الله | چه تلاوت کوو مونږ دَ دے | په تا | په حق سره | پس په کوم

دا دَ الله تعالیٰ آیتونه دي چه مونږ ئې تاته سم سم اوروو . بیا دا (خلق)

حَدِيْثٍۭ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٦﴾ وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ

خبره | پس د الله | او د ده د آیتونو نه | دوی ایمان راوړی | تباهي ده | د هر | دروغژن

د الله تعالی او د ده د آیتونو نه پس به په کومه خبره ایمان راوړی؟ هر دروغژن نافرمان له تباهي

اَثِيْمٍ ﴿٧﴾ يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ

گناهګار د پاره | چه آوری | آیتونه د الله | چه لوستے شي | په ده | بیا | اصرار کوی

مقرر ده چه د الله تعالی آیتونه کوم چه ده ته اوروے شي آوری او بیا هم په خپل غرور کښے

مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٨﴾

په تکبر کولو سره | لکه چه | ده هیڅ آورېدلی نه وی هغه | پس زیرے ورکړه ده ته | د عذاب | دردناک

داسے ټینګ پروت وی لکه چه هیڅ آورېدلی ئے نه وی نو ته داسے کس له د دردناک عذاب زیرے ورکړه.

وَاِذَا عَلِمَ مِنْ اٰيٰتِنَا شَيْـًٔا ۨاتَّخَذَهَا هُزُوًا ۭ اُولٰٓئِكَ

او هر کله چه | کله پوهه شي | زمونږ له آیتونو نه | په څه څیز | نو نیسی دے هغه | په مسخره | هم داخلق دی

او څه وخت چه زمونږ په آیتونو کښے د یو آیت نه خبر شي نو خندا ګالے ورپورے شروع کړی داسے خلقو

لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٩﴾ مِنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ

چه دوی د پاره | عذاب دے | سپکوونکے | د دوی په وړاندے | دوزخ دے | او په کار به رانشي | د دوی

له سپکوونکے عذاب مقرر دے. دوی ته وړاندے دوزخ تیار پروت دے. او دا خپله (دنیوی) ګټه به ورته

مَّا كَسَبُوْا شَيْـًٔا وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ ۚ وَلَهُمْ

څه چه دوی ګټلی | هیڅ هم | او نه | هغه چه دوی ونیول | سیوا | د الله نه | دوستان | او دوی د پاره

هیڅ فائده ورنه کړی، او نه هغه معبودان چه د خدائے نه سیوا ئے ځان له نیولی دی او هغوی د

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٠﴾ هٰذَا هُدًى ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ

عذاب دے | لوئے | دا | هدایت دے | او کوم خلق چه | منکران دی | د آیتونو د رب خپل | هغوی د پاره

پاره لوئے عذاب مقرر دے دا (قرآن سراسر) هدایت دے، او څوک چه د خپل رب آیتونه نه مني هغوی له د

عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿١١﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ ع ١١/١٧

عذاب دے | له دردناک عذاب نه | الله هغه ذات دے | چه تابع ئے کړو | تاسو د پاره | دریاب | چه چلیږی

سختئ نه ډک (او) دردناک عذاب مقرر دے. الله هغه ذات دے چه تاسو له ئے سمندر تابع کړے دے چه کشتئ

الْفُلْكُ فِيْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢﴾

کشتئ | په هغه کښے | د ده په حکم | او چه تاسو ولټوئ | د ده د فضل | او د پاره د دے چه تاسو | شکر وکړئ

پکښے د هغه په حکم چلیږی او د پاره د دے چه تاسو د هغه د فضل تلاش وکړئ او چه شکر ادا کړئ.

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا

او تابع کړل ده | تاسو د پاره هغه څه | چه په اسمانونو کښے دی | او هغه څه | چه په زمکه کښے دی | ټول

او څومره څیزونه چه په اسمانونو او په زمکه کښے پراته دی هغه ټول ئے درته د خپل طرف نه

مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾ قُل لِّلَّذِينَ

دَ خپل اړخه نه | بېشکه | په دې کښې | نخښې دي | دَ هغه خلقو دَپاره | چه فکر کوي | دوايه | هغه خلقو ته

تابع کړل - په دې کښې دَ فکر دَ خاوندانو دَپاره نخښې پرتې دي. ته مؤمنانو ته ووايه چه هغه خلق

آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا

چه ايمان ئې راوړو | چه معاف کړي | هغو ته چه | اُميد نه لري | دَ ورځو دَ الله | دَپاره دَ دې چه سزا ورکړي دې | يو قوم ته

(دَ خپل اړخه نه) معاف وګڼړي چه دَ الله تعالیٰ په معاملو يقين نه ساتي (دَپاره دَ دې) چه الله (په خپله)

بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ أَسَاءَ

دَ هغه څه چه دوي به کول | چا چه عمل وکړو | نيک | نو دَ خپل ځان دَپاره | او چا چه بد کار وکړو

يو قوم له دَ خپل عمل بدله ورکړي. چا چه دَ نيکئ کار وکړو نو خپل ځان له ئې وکړو او څوک چه بد کوي

فَعَلَيْهَا ۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا

پس وبال ئې په ده دې | بيا به | طرف دَ رب خپل ته | راجمع کولې شئ تاسو | او بېشکه | ورکړې وو موږ

نو دَ خپل ځان سره بد کوي بيا ستاسو دَ ټولو دَپاره خپل رب ته پستنه تګ مقرر دے. او موږ بني اسرائيلو ته کتاب

بَنِي إِسْرَائِيلَ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ

بني اسرائيلو ته | کتاب | او حکومت | او نبوت | او موږ روزي ورکړې دوي ته | له پاکيزه څيزونو نه

حکمت او نبوت ورکړے وو، او ښه پاکيزه خوراکونه مو ورته نصيب کړي وو -

وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ وَآتَيْنَاهُم بَيِّنَاتٍ مِّنَ الْأَمْرِ ۖ

او بزرګي ورکړه موږ دوئي ته | په عالمونو باندې | او ورکړې وې موږ دوئي ته | نخښې واضح | په باره دَ دين کښې

او په ټول جهان مو ورته فضيلت ورکړے وو - او هغوئي ته مو دَ دين په حقله څرګندې دليلونه ورکړي وو -

فَمَا اخْتَلَفُوا إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۚ

پس اختلاف ونه کړو دوي | مګر پس له دې نه چه | راغے دوئي ته | علم | په وجه دَ ضد | په خپل مينځ کښې

نو دغه خلقو دَ سم علم دَ راتلو نه پس دَ خپل ضد په وجه اختلاف شروع کړو

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ

بېشکه ستا رب به | فيصله وکړي | دَ دوئي په مينځ کښې | په ورځ | دَ قيامت | په هغه څه کښې | چه دوي به په هغې کښې

بېشکه چه ستا رب به دَ هغوئي ترمينځه دَ قيامت په ورځ دَ اختلافي خبرو په حقله فيصله

يَخْتَلِفُونَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا

اختلاف کولو | بيا | موږ کړے ته | په يوه خاص طريقه | دَ دين | نو پيروي کوه ته دَ هغې

وکړي. بيا (اے پېغمبره!) موږ ته دَ دين په يوه خاصه طريقه روان کړے نو ته په دې طريقه روان وسېږه

وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا عَنكَ

او پيروي مه کوه | دَ خواهشونو | دَ هغو خلقو چه | نه پوهېږي | بېشکه دوي به | هيڅ کله په کار نه راځي | ستا

او دَ دې جاهلانو په خواهشونو پسې مه ځه - دوئي دَ الله تعالیٰ په مقابله کښې ستا هيڅ

مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ

دَالله په مقابله کښې | هيڅ هم | او بيشکه | ظالمان خلق | ځينې له دوی نه | دوستان دی دَ ځينو | او الله

په کار راتلی نه شی ، او ظالمان خلق په خپل منځ کښې دَ يو بل دوستان وی او الله تعالیٰ دَ

وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ⑲ هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ

دوست دے | دَ پرهيزګارانو | دا (قرآن) | دليلونه واضح دی | دَ پاره دَ خلقو | او هدايت دے | او رحمت دے

پرهيزګارانو دوست دے دا قرآن عامو خلقو دَ پاره دَ هوښيارتيا او دَ هدايت ذريعه ده او دَ يقين کوونکو

لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ⑳ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ

دَ هغه قوم دَ پاره | چه يقين کوی | آيا خيال کوی | هغه خلق | چه وے کړل | جُرمونه

دَ پاره لوئے رحمت دے آيا څوک چه بد کارونه کوی دَ هغوئ دا خيال دے چه

اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ

چه کړو به موږ دوی | په شان دَ هغه خلقو | چه ايمان راوړو | او عمل ئے وکړو | نيک | يوشان به وی | ژوندون دَ دوی

موږ به ئے دَ هغو خلقو سره برابر وګرځوو چه ايماندار دی او دَ نيکئ کارونه کوی ، چه دَ دے ټولو ژوند او مرګ

وَمَمَاتُهُمْ ؕ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ㉑ وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ع ١٠ ١٨

او مرګ ئے دَ دوی | بد ده | کوم چه | دوی فيصله کوی | او پيدا کړل | الله | آسمانونه | او زمکه

به يو برابر شی؟ دا خو دوئ ډيره خرابه فيصله کوی۔ او الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه په حکمت سره پيدا

بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ㉒

په حکمت سره | او چه جزا ورکړے شی | هر نفس ته | دَ هغه څه | چه ده وکړل | او په دوئ به | هيڅ ظلم نه کيږی۔

کړی دی او دا چه هر چا ته به دَ خپل عمل بدله ورکړے شی او په هغوئ به هيڅ ظلم نه کيږی۔

اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ

آيا تا نه دی ليدلی | هغه چا ته چه وګرځولو | خپل معبود | خپل خواهش | او ګمراه کړو هغه | الله | سره دَ علمه

آيا تا دَ هغه چا حالت نه کتلی دی چه دَ خپل نفسی خواهش ئے خپل معبود جوړ کړے دے او الله ئے کس سره دَ پوهے ګمراه کړے دے

وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ؕ فَمَنْ

او مهر ئے ووهلو | دَ ده په غوږونو | او دَ ده په زړه | او واچولو | دَ ده په سترګو | پرده | نو څوک به

او دَ هغه په غوږونو او په زړه ئے مهر لګولے دے او په سترګو ئے ورله پرده اچولے ده نو دَ الله تعالیٰ

يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ㉓ وَقَالُوْا مَا هِىَ اِلَّا

لاره ورښائی ده ته | پس دَ الله نه | نو آيا تاسو غور نه کوئ | او دوئ ووئيل | نه ده دا ژوند | مګر

(دَ پريښودو) نه پس به ورته څوک لاره ورښودے شی؟ نو آيا تاسو غور نه کوئ؟ او دا خلق وائی چه زموږ (ژوند) خو بس

حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُمْ

ژوند زموږ | دَ دنيا | چه موږ مړه کيږو | او ژوندی کيږو | او نه هلاکوی موږ | مګر | زمانه | او نشته دوی ته

هم دا دَ دنيا ژوند دے چه موږ مرو او پيدا کيږو او بس دغه زمانه ده چه موږ وژنی ، او دوئ سره په دے

بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۲۴﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ

په دوی باندې | لوستې شي | او هر کله چه | ګمان کوي | مګر | نه دي دوی | څه علم | (خبره) د دې

خبره هیڅ دلیل نشته. دوی خو محض د وهم او ګمان نه کار اخلي، او څه وخت چه ورته زموږ څرګندې آیتونه

اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ

زموږ آیتونه | چه واضحه دي | نو نه وي | د دوی څه (بل) دلیل | سیوا د دې نه چه دوی وائي | راولئ | پلاران زموږ

لوستې شي، نو دوی سره د دې نه سیوا بل هیڅ جواب نه وي چه داووائي چه که تاسو رښتیني یئ نو زموږ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ

که چرې یئ تاسو | رښتیني | ووایه | الله | ژوندي کوي تاسو | بیا به مړه کړي تاسو | بیا به جمع کړي تاسو

(مړه) پلاران ژوندي راحاضر کړئ. ورته ووایه چه هغه خدای دی چه تاسو ژوندي ساتي بیا تاسو له مرګ راولي، بیا هم هغه تا

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

په ورځ | د قیامت | نشته (څه) شک | په دې کښې | لیکن | اکثر | خلق

د قیامت په ورځ راجمع کړي چه په دې کښې هیڅ شک نشته خو اکثر خلق (په دومره خبره هم) نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ

نه پوهیږي | او الله د پاره ده | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکې | او په کوم ورځ چه به | قائم شي

پوهیږي - او د آسمانونو او د زمکې بادشاهي صرف د الله تعالیٰ ده، او په کومه ورځ چه قیامت

السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ

قیامت | په دغه ورځ به | تاوانیان شي | اهل باطل | او وبه وینې ته | هر یو اُمت

قائم شي نو په هغه ورځ به د باطل ملګري په خپل تاوان کښې پریوځي. او ته به هر یوه فرقه ووینې چه په

جَاثِيَةً ۚ كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰى اِلٰى كِتٰبِهَا ۚ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا

په ګوډو پریوتي | هر یو اُمت به | رابللې شي | خپلې عملنامې طرف ته | نن ورځ به | تاسو ته بدله ورکولې شي | د هغه څه

ګوډو به پریوتي وي، هر یوه فرقه به خپله عملنامې ته ور حاضر کړې شي. چه نن به تاسو ته د خپلو کارونو

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ۚ اِنَّا كُنَّا

چه تاسو به کول | دا | زموږ کتاب دی | چه خبرې کوي | ستاسو په مقابله | په حقه | بیشکه موږ به

بدله ورکیدې شي - دا زموږ جوړ کړې دفتر دی چه ستاسو په مقابله کښې رښتیا رښتیا خبرې کوي، موږ خو به

نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

لیکل | هغه څه چه | تاسو به کول. | پس هغه خلق چه | ایمان ئې راوړی دی | او عملونه ئې کړل

ستاسو قول کارونه (په فرښتو باندې) لیکل. نو چا چه ایمان راوړې وو، او د نیکۍ کارونه

الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۰﴾

نیک | نو داخل به کړي دوی | د دوی رب | په خپل رحمت کښې | هم دا ده | کامیابي | ښکاره

ئې کول، نو د هغوی رب به هغوی په خپل رحمت کښې داخل کړي او ښکاره کامیابي هم دغه ده.

وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِىْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ

او ليكن | كوم خلق چه | منكرشول | پس آيا نهٔ وو | زما آيتونه | چه لوستے كيدل | په تاسو | پس لوئي وكړه تاسو

او څوک چه كافران وو نو (هغوئ ته به ووئيلے شي چه) آيا تاسو ته به زما آيتونه نهٔ لوستلے كيدل خو تاسو لوئي وكړه

وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذَا قِيْلَ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ

او وئ تاسو | قوم | ګناهګار | او هركله چه به ووئيلے شو | بيشكه | وعده د الله | رښتينې ده | او قيامت

او تاسو وئ نافرمانه خلق ـ او چه دا به ووئيلے شو چه د الله تعالىٰ وعده حقه ده او (د) قيامت

لَا رَيْبَ فِيْهَا قُلْتُمْ مَّا نَدْرِىْ مَا السَّاعَةُ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا

نشته هيڅ شک | په (راتلو د) دې كښې | نو تاسو به وئيل | مونږ نهٔ پوهيږو | چه څهٔ دے | قيامت؟ | مونږ خيال نهٔ كوو | مګر

(په راتلو) كښې هيڅ شک نشته نو تاسو به وئيل چه مونږ نهٔ پوهيږو چه قيامت لا څهٔ څيز دے؟ مونږ خو دا محض

ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا

يو ګمان غوندې | او مونږ نهٔ يو | يقين كوونكي | او ښكاره به شي | دوی ته | بد پايلې | د هغه څهٔ | چه دوئ به كول

يو خيالي څيز ګڼړو او زمونږ (په دے) هيڅ يقين نشته ـ او دوئ ته به خپل ټول بد عملونه را ښكاره شي ، او

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰىكُمْ

او راتاؤ به شي | په دوئ | هغه (عذاب) | چه دوئ به ورپورې | ټوقې كولے | او وبه وئيلے شي | چه نن ورځ به | هير كړو مونږ تاسو

په كوم څيز پورے چه به ئې خندا ګالنه كولے هغه به ورباندې راتاؤ شي ـ او دا به ورته ووئيلے شي چه مونږ به مو د لے هير كړو

كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ

لكه چه | هير كړے وو تاسو | ملاقات | د دے ورځے خپله | او ستاسو ټيكاڼه | دوزخ دے | او نشته تاسو د پاره

لكه تاسو چه دا ورځ هيره كړے ده ، او ستاسو ټيكاڼه دوزخ دے ، او ستاسو هيڅوک

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٤﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ

څوک مدد ګار | دا (عذاب) | په وجه د هغه دے | چه ونيول وو تاسو | آيتونه د الله | په مسخره سره | او دوكه وركړه تاسو ته

مدد ګار نشته ـ دا حُكم چه تاسو د الله تعالىٰ په آيتونو پورے خندا ګالنه كوله او د دنيا ژوند

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٣٥﴾

ژوند | د دنيا | پس نن ورځ به | دوئ نهٔ شي را ويستلے كيدے | له دوزخ نه | او نهٔ به دوئ | د توبې موقع ملاؤ شي

په دوكه كښې غورزولي وئ نو نن ورځ به دوئ د دوزخ نه بهر نهٔ شي را ايستلے او نهٔ به د دوئ توبه قبلولے شي

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٦﴾

نو الله د پاره ده | ټول له ستائينه | چه رب دے | د آسمانونو | او رب دے | د زمكے | (او) رب دے د ټولو جهانونو

نو ټول تعريفونه الله تعالىٰ د پاره دي چه د آسمانونو ، زمكے او د ټولو جهانونو رب دے ـ

وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٣٧﴾

او هم د هٔ د پاره | لوئي ده | په آسمانونو كښے | او په زمكه كښے | او هم دے | زبردست | حكمت والا

او ټوله لوئي يوازے د هغهٔ ده هم په آسمانونو كښے او هم په زمكه كښے او هغه غالب دے د حكمت خاوند دے

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعليم القرآن

تکي په تکي
او روانه ترجمه

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة احقاف په مکه کښې نازل شوې ده | شروع کوم په نوم د الله چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | په دې کښې ۳۵ آيتونه او ۴ رکوع دي

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان د ډېر زيات رحم خاوند دے۔

حٰمٓ ۝١ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝٢

حٰمٓ | نازليدل | د کتاب | د الله د طرف نه | چه ډېر غالب | حکمت والا دے

حٰمٓ۔ دا کتاب الله پاک رالیږلے دے چه غالب د حکمتونو خاوند دے

مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ

نه دي پيدا کړي موږ | آسمانونه | او زمکه | او څه چه | د دې دواړو په مينځ کښې دي | مګر | په حق سره

او موږه آسمانونه او زمکه او د دې دواړو ترمينځه څيزونه په ډېر حکمت سره او په يوه

وَّاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ۝٣

او يو وخت | مقرر د پاره | او کوم خلق چه | منکران دي | له هغه څه نه | چه دوی ترې نه وېرولے شول | مخ اړوونکي دي.

تاکلے نيټه پيدا کړي دي. او خوک چه کافران دي هغوئ چه د کوم څيزونه وېرولے شي (لکه) د هغه څيزونه (په غفلت) مخ اړونه

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا

ووايه | آيا کتلي دي تاسو هغه څه | چه تاسو ئې عبادت کوئ | سيوا | د الله | وښايئ ما ته | څه څيز

اړوي. (اے نبي!) ته ورته ووايه چه دا خو ووايئ چه تاسو د الله تعالیٰ نه بغير د نورو کوم څيزونو عبادت کوئ نو ما ته وښايئ

خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى السَّمٰوٰتِ ؕ اِيْتُوْنِيْ

پيدا کړے دوی | له زمکے نه | يا د دوی | (څه) شراکت دے | په آسمانونو کښې | راوړئ ما ته

چه هغوئ په زمکه کښې کوم څيز پيدا کړے دے يا هغوئ د آسمانونو (په جوړولو) کښې شريک دي. که چرے (د شرک

بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ

يو کتاب | وړاندې | له دے (قرآن) نه | يا څه روايت | علمي | که چرے يئ تاسو

په حق کښې) تاسو سره څه سابقه آسماني کتاب يا علمي آثار موجود وي نو ما ته ئے راوړئ که تاسو

صٰدِقِيْنَ ۝٤ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ

رښتيا ويونکي | او څوک | زيات ګمراه دے | له هغه چا نه | چه بلي دے | سيوا

رښتيني يئ۔ او د هغه چا نه به څوک زيات ګمراه بل څوک وي چه د الله تعالیٰ نه سيوا

اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ

د الله نه | هغه څيز | چه جواب نه شي ورکولے | ده ته | تر ورځے | د قيامت | او دوی

د هغه څيزونو عبادت کوي چه تر قيامته پورے به ئے خبره و نه مني بلکه د بلنے (د

عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ ۝٥ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً

د دوی له بلنے نه | غافله دي | او هر کله چه جمع کړے شي | خلق | نو هغوئ به دوی د دوی | دښمنان

نعرو شورو) نه به ئے خبر هم نه شي؟ او کوم وخت چه ټول خلق (د قيامت په ورځ) راغونډ کړے شي نو هغه معبودان به ئے دښمنان

وَكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ۝٦ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

اووي به دوی | له عبادت د دوی نه | انکارکوونکي | او هرکله چه | لوستلے شي | په دوی باندې | زمونږ آيتونه

ؤ خيژي او د دوئ د عبادت نه به (بېخي) منکرشي . او کله وخت چه د دوئ په وړاندې زمونږ څرګند او واضحه آيتونه

بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ هٰذَا

واضحه | نو وائي | هغه خلق چه | انکار ئے وکړو | د حق په باره کښے | هرکله چه هغه راغے دوی ته | چه دا خو

ؤ لوستلے شي نو کافران خلق د دے ربښتینے خبرے په حقله وائي کومه چه ورته رارسیدلے ده چه دا خو

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۗ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ

جادو دے | ښکاره | آيا دوی وائي | دهٔ د ځانه جوړ کړے دے دا | ووايه | که چرے ما دا د ځانه جوړ کړے وي

ښکاره جادو دے . آيا دوئ وائي چه دهٔ (پیغمبر) دا کتاب د ځان نه جوړ کړے دے؟ ته ووايه چه که ما دا د ځانه جوړ کړے

فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِيْ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۗ هُوَ اَعْلَمُ بِمَا

نو تاسو اختيار نهٔ لرئ | زما د بچ کولو | د الله نه | د هيڅ څيز | هم دے | ښهٔ پوهه دے | په هغه خبرو

وي نو تاسو د الله تعالیٰ په معامله کښے زما هيڅ هم مدد نهٔ شئ کولے . تاسو چه د قرآن په حقله کومے خبرے جوړوئ

تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ۗ كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًا ۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۗ وَهُوَ الْغَفُوْرُ

چه تاسو ئے جوړوئ | د دے په حقله | دے کافي دے د دے | ګواه | په مينځ زما او په مينځ ستاسو کښے | او دے | بخښونکے

په دے هغه ډیر ښهٔ پوهه دے ، زما او ستاسو تر مينځه ګواهئ له يواځے هغه کافي دے او هغه (الله) ډیر بخښونکے

الرَّحِيْمُ ۝٨ قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ مَا

مهربان دے | ووايه | نهٔ يم زهٔ | نوے راغلے | له پيغمبرانو نه | او زهٔ نهٔ پوهيږم | چه څهٔ به

زيات رحم کوونکے دے . ولے نبی! ته ووايه چه زهٔ په رسولانو کښے څهٔ نا آشنا رسول خو نهٔ يم ، زهٔ خو په دے هم نهٔ

يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ ۗ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ وَمَآ اَنَا

کولے شي | ما سره | او نهٔ تاسو سره | پيروي نهٔ کوم زهٔ | مګر د هغه څهٔ | چه وحی ئے کولے شي | زما طرف ته | او نهٔ يم زهٔ

پوهيږم چه ما سره به څهٔ (سلوک) کيږي او تاسو سره څهٔ؟ زهٔ خو بس په هغه (حکم) پسے روان يم د کوم چه راته وحی کيږي او زهٔ

اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٩ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَ

مګر ويروونکے | ښکاره | ووايه | آيا کتلي دي تاسو | که چرے دا (قرآن) وي | د الله د طرف نه | او

بس يو صفا صفا ويروونکے يم . اے نبی! ته ورته ووايه چه دا خو راته ووښايئ چه که دا قرآن د الله د طرف نه راغلے وي او

كَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ

تاسو انکار وکړو | په دے | او ګواهي ورکړه | يو ګواه | له بني اسرائيلو نه | هم د دے په شان

بيا تاسو ترے نه منکران شوي يئ او د بني اسرائيلو يو ګواه د دے په شان په يو کتاب ګواهي ورکړي او

فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝١٠ ع ١

بيا دهٔ ايمان راوړو | او تاسو غرور وکړو | بيشکه الله | لار نهٔ ښائي | ظالمانو خلقو ته

ايمان ئے راوړي او تاسو په خپل غرور کښے پاتے شئ (نو ستاسو انجام به څهٔ شي)؟ الله تعالیٰ بے انصافه خلقو ته هدایت نهٔ کوي

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا

او وائی | هغه خلق | چه کفرئے وکړو | هغه خلقو ته | چه ایمانئے راوړے دے | که چرې وے دا (دین) | بهتر | (نو)

او (دا) کافران د مسلمانانو په حقله وائی چه که دا (قرآن) څه ښه څيز وے نو دوی

سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ؕ وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ فَسَيَقُوْلُوْنَ هٰذَآ

وړاندې وائې نه وو کړې دوی په مونږ باندې | د طرف ته | او هر کله چه لاره بیا نه مونده له دوی | په قرآن | نو اوس به دوی وائی | (چه) دا (خو)

به پرے زمانه ور مخکښې شوی نه وو او هر کله چه د قرآن نه دوی ته هدایت نصیب نه شو نو اوس به دا وائی چه

اِفْكٌ قَدِيْمٌ ۝۱۱ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ؕ وَهٰذَا

دروغ دی | پخوانی | او وړاندې له دے نه | کتاب | د موسیٰ (وو) | پیشوا | او رحمت | او دا

دا پخوانی دروغ دی ۔ او د دے (قرآن) نه وړاندې د موسیٰ کتاب هم لار ښودونکے او رحمت وو او دا

كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ وَبُشْرٰى

کتاب دے | تصدیق کوونکے | په عربی ژبه کښې | چه ووېروی | هغه خلق چه ظلم ئے وکړو | او د پاره د زیری ورکولو

کتاب د هغه تصدیق کوی په عربی ژبه کښې رالغلے دے چه ظالمان خلق ووېروی او نیکانو خلقو ته

لِلْمُحْسِنِيْنَ ۝۱۲ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ

نیکانو ته | بیشکه | کوم خلق چه ووئیل چه | زمونږ رب | الله دے | بیا | قائم پاتے شول | پس نشته هیڅ وېره

زیرے ورکوی ۔ چا چه دا ووئیل چه زمونږ رب الله دے بیا پرے ټینګ پاتے شول نو په هغوی به نه څه

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝۱۳ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ

په دوی باندې | او نه به دوی | غمژن وی | هم دا خلق دی | جنتیان | همیشه به وی

وېره راځی او نه به غمژن کیږی ۔ هم دغه جنتیان دی چه تل به پکښې مزے

فِيْهَا ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۱۴ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ

په دے کښې | په بدله کښې | د هغه کارونو چه | دوی به کول ۔ | او حکم وکړو مونږ | انسان ته

کوی ، دا جنت د هغه کارونو بدله ده چه هغوی به کول ۔ او مونږ انسان ته حکم ورکړے دے

بِوَالِدَيْهِ اِحْسٰنًا ؕ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ

خپل مور او پلار سره | د نیکئ کولو | چه په خیټه کښې اوچت کړو دے | مور د ده | په تکلیف سره | او ووے زیږولو دے | په تکلیف سره

چه مور پلار سره ښه سلوک ساته ۔ د ده مور دے په ډیر تکلیف سره خیټه کښې وساتلو او په ډیر تکلیف سره ئے وزیږولو

وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ

او د ده حمل | او له پیو نه خلاصول د ده | دیرش | میاشتے (دی) | تر دے چه | هر کله دے ورسیدو | خپلے ځوانئ ته

او د ده د حمل زمانه د ئی نه خلاصیدل په دیرشو میاشتو کښې پوره شو ۔ هر کله چه دے خپلے پورہ ځوانئ ته ورسیدو

وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِیْٓ اَنْ اَشْكُرَ

او ورسید دے | څلویښتو | کالو ته | نو ده ووئیل | اے زما ربه! | توفیق راکړه ما ته | چه زه شکر وکړم

او د څلویښتو کالو عمر ته ورسیدو ، نو ده ووئیل چه اے زما ربه! ما په دے خبره قائم پاتے کړے چه ستا د

نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ

ستا دَ نعمت | هغه چه | انعام کړے دے تا | په ما باندې | او زما په مور پلار باندې | او چه زهٔ عمل وکړم

هغه نعمتونو شکریه ادا کړم چه ما له او زما مور پلار له دِ درکړی دی ۰ او دا چه زهٔ دَ نیکۍ

صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ ۚ اِنِّيْ تُبْتُ

نیک | چه راضي شې ته په هغې | او صلاحیت پیدا کړه | ما دَ پاره | زما په اولاد کښې | بیشکه ما | توبه وکړه

کارونه کوم چه ته پرې رضا شې او زما اولاد زما په حقله سم صالح (نیک) کړې ! زهٔ تا ته توبه وُباسم

اِلَيْكَ وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝١٥ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ

ستا طرف ته | او بیشکه زهٔ | له مسلمانانو نه یم | هم دا هغه خلق دی | چه قبلوو مونږه له دوی نه

او ستا په فرمان منونکو (بندګانو) کښې شامل یم ۔ دا هغه کسان دی چه مونږ به دَ دوی ښه ښه

اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ فِيْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ۭ

هغه نیک عمل | کوم چه | دوی وکړو | او مونږ معاف کوو | دَ دوی ګناهونه | په جنتیانو کښې (به وی)

عملونه قبول کړو ، او ګناهونه به ورته معاف کړو ، په جنتیانو کښې به شامل شي

وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ۝١٦ وَالَّذِيْ قَالَ

رښتینې وعده (ده) | کومه چه | دوی سره کولے شي | او هغه څوک چه | وے وئیل

دا (دَ الله تعالیٰ) رښتینې وعده ده چه دوی سره (په دنیا کښې) کولے شي ۔ او هغه کس چه مور پلار ته

لِوَالِدَيْهِ اُفٍّ لَّكُمَآ اَتَعِدٰنِنِيْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ

خپل مور پلار ته | افسوس دے په تاسو | آیا وعده راکوئ تاسو ما ته | چه زهٔ به دوباره راویستلے شم | حالانکه تیر شوی دی

دو یئیل چه افسوس دے په تاسو، آیا تاسو ما ویروئ چه زهٔ به (قبر نه دوباره) راپاڅولے شم او له ما نه وړاندې

الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ ۚ وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ اٰمِنْ ڰ

امتونه | له ما نه وړاندې | او دا دواړه | فریاد کوي | الله ته | آه ستا تباهي وُشه | ایمان راوړه

ډیر قومونه تیر شوی دی او دَ هغه مور پلار الله ته فریاد کوي (او خپل ځوئ ته وائي) چه اے بدبخته! ایمان راوړه!

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ښ فَيَقُوْلُ مَا هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٧

بیشکه | وعده دَ الله | رښتینې ده | پس وائي دے | نهٔ دی دا | مګر | قصې | دَ پخوانو خلقو

بیشکه دَ الله تعالیٰ وعده رښتینې ده نو هغه (په جواب کښې) وائي چه دا دَ پخوانو خلقو قصې دی ۔

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ

هم دا هغه خلق دی | چه ثابته شوه | په دوی باندې | وعده دَ (عذاب) | په اُمتونو کښې | چه تیر شوی دی

دا هغه خلق دی چه دَ دوی په حقله دَ الله تعالیٰ وینا پوره شوه ۰ دَ هغه کسانو سره چه دَ دوی

مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ۝١٨

له دوی نه وړاندې | له پیریانو | او انسانانو نه | بیشکه دوی وو | نقصان مونده ونکي

نه پخوا تیر شوی دی که پیریان دی او که بنیادم دی ۰ دغه ټول خلق تاوانیان پاتے شول ۔

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ

او هر يو ته | درجې دي | په سبب د هغه عملونو | چې دوى به کول | چې الله پوره به ورکړي دوى ته | د دوى د عملونو

او هر چا ته به د خپل خپل عمل په مطابق (جدا جدا) مرتبې ورکولې شي، دا ځکه چې د خپلو خپلو عملونو جزا ورته پوره ورکړي

وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ

او په دوى به هيڅ ظلم نه کيږي | او په کومه ورځ چې | پيش کړې شي | هغه خلق چې | کافران دي | په اور

او په هغوى به هيڅ ظلم نه کيږي. او په کومه ورځ چې کافران (د دوزخ) اور ته ور مخامخ کړې شي

اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ

تاسو ختم کړل | خپل د مزو شيزونه | د دنيا په خپل ژوند کې | او فائده واخستله تاسو | په هغې

چې تاسو خو خپل (خوندونه) لذتونه په دنيا کې حاصل کړل او بې مزې مو پرې وکړې

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ

پس نن ورځ به | تاسو ته ورکولې شي | عذاب | د ذلت | ځکه چې | تاسو به تکبر کولو

نو نن به درته د ذلت سزا درکولې شي ځکه چې تاسو په دنيا کې بې ځايه

فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُوْنَ ﴿۲۰﴾ ع وَاذْكُرْ

په زمکه کې | په ناحقه | او په دې وجه | چې تاسو به نافرماني کوله | او ياد کړه

غرور کولو. او نافرمانۍ مو کولې. او (اے نبي!) ته دوى ته د

اَخَا عَادٍ ؕ اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ بِالْاَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ

ورور | قوم د عاد | هر کله چې ده وويرول | خپل قوم | په (والۍ د) احقاف کې | او تيرشوي دي | ويروونکي

عاديانو د ورور (هود) ذکر وکړه چې هغه خپل قوم چې په شګلو کې علاقه کې وسيدو (د عذاب) وويرولو او د هغه نه وړاندې

مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖۤ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّيْۤ

وړاندې له ده نه | او وروستو له ده نه | چې عبادت مه کوئ (د چا) | سيوا د الله نه | بيشکه زه

وروستو نور هم ډير ويروونکي تيرشوي دي (ويل ئې) چې تاسو بې د الله نه د بل هيچا عبادت مه کوئ، ما سره ويره

اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۲۱﴾ قَالُوْۤا اَجِئْتَنَا

ويريږم | په تاسو | له عذاب نه | د ورځې لوئې | دوى ووئيل | آيا ته راغلې يې موږ ته

ده چې په تاسو به د يوې لوئې (سختې) ورځې عذاب راشي. هغوى ورته ووئيل چې آيا ته ځکه راغلې يې

لِتَاْفِكَنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ

چې ته واړوې موږ | زموږ له معبودانو نه | پس راوله په موږ | هغه (عذاب) | چې وعده ئې کوې ته موږ سره

چې موږ د خپلو معبودانو نه واړوې؟ ، پس ته چې د کوم عذاب نه موږ ويروې هغه راوله

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۲﴾ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاُبَلِّغُكُمْ

که چرې يې ته | له رښتيا ويونکو نه | ده ووئيل | چې علم خو | د الله سره دے | او زه رسوم تاسو ته

که ته رښتينے يې. (هود) ووئيل چې د دې علم خو الله تعالیٰ ته دے او زه خو تاسو ته هغه پيغام

مَآ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا

هغه څه چه رالیږلے شوے یم زه په هغې | او لیکن زه | وینم تاسو | چه (تاسو) یو جاهل قوم یئ | بیا هر کله چه

(قدر) در رسوم دَ کوم دَ پاره چه زه رالیږلے شوے یم لیکن زه دا وینم چه تاسو دَ جهالت خبرے کوئ، بیا هر کله چه

رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ

ولیدلو دوی هغه | چه یوه وریځ | راتلونکے ده | میدانونو دَ دوی ته | نو دوی ووئیل | دا | وریځ ده

هغوی ولیدل چه یوه وریځ دَ هغوی دَ علاقے طرف ته راروانه ده نو دا ئے ووئیل چه دا خو وریځ ده چه

مُّمْطِرُنَا ۭ بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ

وریدونکے په مونږ | بلکه | دا هم هغه ده | چه په تلوار ئې غوښتلو تاسو هغه | باد دے | چه په هغې کښے | عذاب دے

را باندې به و وریږی. نه بلکه دا خو هغه څیز دے دَ کوم دَ پاره چه تلوار کولو تاسو (دا هغه) سیلئ ده په کومه کښے چه دردناک

اَلِيْمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۢ بِاَمْرِ رَبِّهَا فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى

دردناک | برباد وی | هر یو څیز | په حکم | دَ خپل رب | پس شول دوی | چه نه شولیدے کیدے

عذاب دے، چه هر یو څیز به دَ خپل رب په حکم سره تباه کړی نو هغوی داسے (تباه) شول چه دَ کورونو

اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ

سیوا دَ دوی دَ کورونو نه | دغه شان | مونږ سزا ورکوو | مجرمانو خلقو ته | او مونږ قدرت ورکړے وو دوی ته

نه بغیر نور هیڅ (نخښه) ئے لیدلے نه شوه مونږ مجرمانو له هم دغسے سزا ګانے ورکوو. او مونږ هغوی له دومره زوراو

فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا

په هغه څه کښے | چه مونږ قدرت نه دے ورکړے تاسو | په هغے کښے | او ورکړی وو مونږ | دوی ته | غوږونه | او سترګے

قدرت ورکړے وو چه تاسو له مو نه دے ورکړے او هغوی له مو غوږونه او سترګے او زړونه

وَّاَفْـِٕدَةً ڮ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ

او زړونه | پس نه څو | په کار راغلل | دَ دوی | غوږونه دَ دوی | او نه | سترګے دَ دوی | او نه

ورکړی وو خو نه ورله غوږونو څه کار ورکړو او نه سترګو او نه

اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ

زړونه دَ دوی | هیڅ هم | هر کله چه | دوی انکار کولو | دَ آیتونو دَ الله | او راګیر ول

زړونو (فائده ورکړه). ځکه چه دَ الله تعالیٰ دَ آیتونو برخلاف په ضد ولاړ وو او په کوم

بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٢٦﴾ ۧ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ

دوی لره هغه څه | چه هغے پورے به دوی | ټوقے کولے | او بیشکه هلاک کړل مونږ | چه | چاپیره ستاسو ګی

(عذاب) پورے چه ئے ټوقے کولے هغه ترے نه راتاو شو. او مونږ تاسو نه ګیر چاپیره نور کلی هم

مِّنَ الْقُرٰى وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا

کلی | او اړولے راړولے مونږ | نخښے | دَ پاره دَ چه دوی | واپس راوګرځی | پس ولے

تباه کړی دی او مختلفے نخښے مو ورته بیا بیا ښودلی دی دَ پاره دَ دے چه هغوی راوګرځی نو هغه کسانو

نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا

مدد ورنکړو دوی ته | هغو کسانو چه | نیولي ؤو دوی | سیوا | د الله نه | (د دوی) د قرب حاصلولو د پاره

ورسره ولې امداد ونه کړو کوم چه هغوی د الله تعالیٰ د نزدیکت حاصلولو د پاره د دهٔ نه سیوا معبودان

اٰلِهَةً ؕ بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٨﴾

معبودان | بلکه | هغوی ورک شول | له دوی نه | او دا ؤو | د دوی دروغ | او څه چه | دوی دروغ جوړول.

جوړ کړی وو بلکه هغه د دوی نه ورک شول. او دغه خو یو د دوی د دوی ځانونو جوړ کړي خبرې وې.

وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ فَلَمَّا

او هر کله چه مونږ راواړول | ستا طرف ته | یو ډله | له پیریانو نه | چه آوریدل به دوی | قرآن | پس هر کله چه

او هغه وخت را یاد کړه چه مونږ ستا طرف ته د پیریانو یو ټولګې راواړولو چه قرآن ته یې غوږ ونیوه، بیا چه هغوی

حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا

دوی حاضر شول قرآن ته | نو دوی ووئیل | چپ شئ | پس هر کله چه | پوره کړے شو (لوستل) | نو دوی واپس شول

قرآن ته راغلل نو دا یې ووئیل چه چپ شئ (واورئ) بیا چه (تلاوت) پوره شو نو هغوی خپل

اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ

خپل قوم طرف ته | د ویرولو د پاره | دوی ووئیل | اے زمونږ قومه! | بیشکه مونږ واوریدے | یو کتاب | چه نازل شوے دے

قوم ته د ویرولو په غرض پسته لاړل. هغوی ووئیل چه اے زمونږ قومه! مونږ یو کتاب آوریدلے دے چه د موسیٰ

مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ

پس | له موسیٰ نه تصدیق کوونکے دے | د هغه څه | چه وړاندې له دهٔ نه وو | لار ښائي | حق دین طرف ته

(د تورات) نه پس نازل کړے شوے دے چه له ځان نه د وړاندې یو (کتابونو) تصدیق کوي او د حقو خبرو او د

وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٣٠﴾ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا

او طرف د لارے | سمے ته | اے زمونږه قومه! | قبوله کړئ (خبره) | د دعوت ورکوونکي د الله | او ایمان راوړئ

سمے لارے هدایت کوي. اے زمونږ قومه! د الله طرف ته د بلونکي (نبي) خبره ومنئ او ایمان پرے

بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٣١﴾

په دهٔ | الله به وبخښي | تاسو د پاره | ستاسو ګناهونه | او بچ به کړي تاسو | له عذاب | دردناک نه

راوړئ. الله تعالیٰ به درته ګناهونه وبخښي او د دردناک عذاب نه به مو په امان وساتي

وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِى الْاَرْضِ

او څوک چه | قبوله نهٔ کړي (خبره) | د بلونکي | د الله | پس نهٔ دے | دے عاجزه کوونکے | په زمکه کښې

او چا چه د الله طرف ته د بلونکي (پیغمبر) خبره ونهٔ منله نو هغه د زمکې په مخ الله تعالیٰ عاجزه کولے نهٔ شي

وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٢﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا

او نشته دهٔ د پاره | د دهٔ نه سیوا | څوک مددګار | هم دا خلق دي | په ښکاره ګمراهئ کښې | آیا دوی نهٔ دي کتلي

او نهٔ به یې د الله تعالیٰ نه سیوا څوک بل مددګار پیدا شي، هم دغه خلق په ښکاره ګمراهئ کښې پراته دي، آیا دوی دې ته نهٔ ګوري

أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ

چه بیشکه الله | چا چه | پیدا کړل | آسمانونه | او زمکه | او ستړے نه شو | د دوئ په پیدا کولو

چه الله تعالیٰ هغه ذات دے چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړی دی او د دے په پیدا کولو ستړے شوے نه دے

بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ۚ بَلَىٰ إِنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

کے قادر دے | په دے چه | ژوندی کړی | مړی | ولے نه! | بیشکه دے | په هر څیز باندې

هغه په دے هم قدرت لری چه مړی را ژوندی کړی ولے نه! هغه خو په هر څه باندې پوره قدرت

قَدِيرٌ ۝٣٣ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ

قادر دے | او په کومه ورځ چه به | پیش کړے شی | هغه خلق چه | کافران دی | په اور

لری. او په کومه ورځ چه کافران (د دوزخ) اور ته وړاندې کړے شی،

أَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ۖ قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ

آیا نه دے دا (وعده) | حقه | دوی به وائی | ولے نه | قسم دے په رب زمونږ | دوی به فرمائی

چه (وائی کنه!) دا حقیقت دے که نا؟ وائی به چه ولے نه قسم دے زمونږ په خپل رب (چه دا برحق دے) نو الله تعالیٰ به

فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ۝٣٤ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ

پس وڅکئ | (دا) عذاب | په بدله د هغے | (چه) تاسو به انکار کولو | پس ته صبر کوه | لکه چه | صبر کړے وو

وفرمائی چه د خپل کفر په وجه دا عذاب وڅکئ. نو (اے پیغمبره!) ته صبر کوه لکه نورو د لوی

أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَهُمْ ۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ

د لوی همت | پیغمبرانو | او تلوار مه کوه | د دوئ د پاره | ګویا چه دوئ | په کومه ورځ

همت خاوندانو پیغمبرانو چه به صبر کولو او د دوئ په حقله تلوار مه کوه. دوئ چه په کومه ورځ په خپله

يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ ۚ

ووینی | هغه (عذاب) | چه دوئ سره ئے وعده کولے شی | دوئ نه وو پاتے شوی | مګر | یو ساعت | د ورځے

نامه تیا کلے عذاب ووینی نو بالکل داسے به ورته ښکاری لکه چه (په دنیا کښے) په ورځ کښے یو ساعت قدرله پاتے شوی وی

بَلَاغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ ۝٣٥

(دا خو) رسول دی | نو آیا | (څوک به) هلاکولے شی | سیوا | د نافرمانه خلقو نه؟

د دے پیغام رسول (ستا کار دے) اوس به هم هغه هلاکولے شی چه نافرمانه دی.

سُورَةُ مُحَمَّدٍ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَثَلٰثُونَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

سورة محمد په مدینه کښے نازل شوے ده | شروع کوم په نامه د الله چه ډیر مهربان، ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښے ٣٨ آیتونه او ٤ رکوع دی

د الله تعالیٰ په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ أَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ۝١

کوم خلقو چه | انکار وکړو | او منع ئے کړل (خلق) | د الله د لارے نه | (الله) ضائع کړل | عملونه د هغوئ

څوک چه کافران وو او (خلق ئے) د الله تعالیٰ د لارے نه منع کړل نو الله تعالیٰ د هغوئ عملونه برباد کړل

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ

او كوم خلق چه | ايمان راوړو | او عملونه ئے وكړل | نيک | او ايمان ئے راوړو | په هغه څه چه نازل شوي

او چا چه ايمان راوړو او د نيكئ كارونه ئے وكړل او په هغه (كتاب) ئے ايمان راوړو چه په محمد باندې

عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

په محمد باندې | او هم دا حق دے | د دوئ د رب له طرف نه | الله به لرے كړي | له دوئ نه | د دوئ بدياني

نازل شوے دے او هغه د دوئ د رب د طرف نه حق دے نو الله تعالىٰ به ورله ګناهونه معاف كړي

وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ (٢) ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ

او سم به كړي | د دوئ حال | دا ځكه چه | كوم خلق | منكران دي | هغوئ پيروي وكړه | د باطلو

او د هغوئ حالت به سم وساتي. دا ځكه چه كافران خو په غلطه لاره لاړل.

وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَذٰلِكَ

او دا چه | كوم خلقو | ايمان راوړو | هغوئ پيروي وكړه | د حق | د خپل رب له طرف نه | دغه شان

او د ايمان خاوندانو د خپل رب د طرف نه راغلے حقه لاره غوره كړه.

يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ (٣) فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

بيانوي | الله | خلقو د پاره | مثالونه د دوئ | بيا هركله چه | مقابله شئ | د هغو خلقو سره | چه كافران دي

الله تعالىٰ په دے شان خلقو ته د هغوئ حالتونه بيانوي ، نو هر كله چه كافرانو سره مو مقابله راشي

فَضَرْبَ الرِّقَابِ ؕ حَتّٰٓى اِذَآ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ۙ

نو وهئ | (د هغوئ) څټونه | ترڅو چه | هر كله | د دوئ ډيرے وينے توئے كړئ | نو مضبوط كړئ (د دوئ) قيد

نو څټونه ترے نه پريكوئ ترڅو چه هغوئ په ښه شان سره ووژنئ نو (باقي) په ښه شان سره قيد كړئ

فَاِمَّا مَنًّاۢ بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ

بيا يا (خو) احسان وكړئ | پس له هغه نه | او يا تاوان (واخلئ) | ترڅو چه | كيږدي | جنګ

نو بيا يا خو ورسره احسان وكړئ يا ترے نه عوض واخلئ ، ترڅو چه جنګ (كوونكي) خپله وسله كوزه

اَوْزَارَهَا ۚۛ ذٰلِكَ ؕ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ

وسلے خپلے | هم دا دے (حكم) | او كه چرے | الله غوښتلے | نو ضرور به ئے انتقام اخستے وو | له دوئ نه | او ليكن

كړي دا حكم هم دغسے دے ، او كه د الله تعالىٰ خوښه وے نو د دوئ نه به ئے (پخپله) بدل اخستے وو خو دا (حكم

لِّيَبْلُوَا۠ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ

چه ستاسو ازمائي | ځينے له تاسو نه | په ځينو | او كوم خلق چه | ووژلے شول | په لاره د الله كښے | پس هيڅ كله

ئے) ځكه (دركړو) چه د يو بل په ذريعه ستاسو ازميښت وكړي او څوک چه د الله تعالىٰ په لاره كښے ووژلے شي نو الله تعالىٰ د

يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ (٤) سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ (٥) وَيُدْخِلُهُمُ

الله ضائع نه كړي | عملونه د دوئ | لاره به ورښائي دوئ ته | او درست به كړي | حال د دوئ | او داخل به كړي دوئ

هغوئ عملونه هيڅكله نه ضائع كوي، الله تعالىٰ به هغوئ له هدايت وكړي او د هغوئ حالت به درست ساتي او هغوئ به جنت ته

الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴿٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا

جنّت ته | چه دهٔ ښودلے دے دا | دوئ ته | اے ایمان والو! | که چرے مدد وکړئ تاسو

داخلوی چه ورته به ئے ښئهٔ په ګوته کړی اے مؤمنانو! که چرے تاسو دَ الله تعالٰی (دَ دین) مدد وکړئ

اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ

دَ الله | دے به مدد وکړی ستاسو | او ثابت به کړی | قدمونه ستاسو | او هغه خلق چه | کفر ئے وکړو | نو تباهی ده | دوئ دپاره

نو هغه به ستاسو مدد وکړی او ستاسو پښے به ټینګے ساتی. او څوک چه کافران دی نو هغوئ له بربادی مقرره

وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿٨﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

او دهٔ ضائع کړل | دَ دوئ عملونه | دا | ځکه چه دوئ ناخوښه کړو | هغه څیز | چه نازل کړو الله

ده او الله تعالٰی دَ هغوئ عملونه برباد کړل. دا په دے وجه چه څهٔ الله تعالٰی نازل کړل هغه دوئ ناخوښه کړل نو

فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿٩﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ

نو دهٔ ضائع کړل | دَ دوی عملونه | آیا دوی نه دی ګرځیدلی | په زمکه کښے | چه دوی وګوری | چه څنګه

الله تعالٰی دَ هغوئ عملونه ضائع کړل آیا دا خلق دَ زمکے په مخ ګرځیدلی نه دی چه دا ئے کتلے وے چه دَ دوئ

كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۡ وَلِلْكٰفِرِيْنَ

شو | انجام | دَ هغو خلقو | چه له دوی نه وړاندِ وو | تباهی راوستله | الله | په دوی باندِ | او کافرانو دَ پاره

نه دَ مخکښو خلقو انجام څنګه شو ؟ الله تعالٰی هغوئ هلاک کړل او دے کافرانو سره

اَمْثَالُهَا ﴿١٠﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ

هم دا رنګ (سزاګانے) دی | دا | ځکه چه الله | کارساز دے | دَ هغه خلقو | چه ایمان ئے راوړو | او دا چه | کافران (چه دی)

هم دغسے معامله کیدونکے ده. دا ځکه چه الله تعالٰی دَ مؤمنانو ملګرے دے او دَ کافرو هیڅوک

لَا مَوْلٰى لَهُمْ ﴿١١﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

څوک کارساز نشته دَ دوی | بیشکه | الله به | داخل کړی | هغه خلق چه | ایمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل نیک

ملګرے نشته. بیشکه الله تعالٰی به دَ ایمان او دَ نیک عمل خاوندان داسے باغونو

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ

په باغونو کښے | بهیږی به | لاندِ دَ هغو نه | نهرونه | او کوم خلق چه | کافران دی | دوئ فائده اخلی

ته ورننباسی چه دَ هغو لاندِ به ویالے بهیږی. او کافران خلق (په دنیا کښه) څهٔ فائده اخلی

وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿١٢﴾ وَكَاَيِّنْ

او دوئ خوری | څنګه چه | خوری | څاروی | او هم دوزخ | ټیکاو ئے ځای ده | دوئ دپاره | او ډیر

او داسے خوراک (څښاک) کوی څنګه چه څاروی خوری (څښی) او (دَ دوزخ) اور ئے ټیکاو ځای ده او داسے ډیر

مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ

کلی | چه هغه | زیات وو په طاقت کښے | ستا دَ کلی نه | کوم چه | ته ئے ایستلے یئے

کلی وو چه ستاسو دَ دغه کلی نه په زور کښے سیوا وو دَ کوم خلقو نه چه خلقو ته را ایستلے یئے.

ع ١١ / ٥

أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ⑬ أَفَمَنْ كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ

هلاک کړل موږ دوی | پس نشته هیڅوک مدد ورکوونکے | د دوئ | آیا څوک چه | وی | په واضحه دلیل

موږ هغوئ هلاک کړل نو هیڅوک مددګار ئے پیدا نه شو. نو آیا څوک چه د خپل رب له طرف نه په ښکاره لاره

مِنْ رَبِّهِ كَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ وَاتَّبَعُوا

د خپل رب له طرف نه | په شان د هغه چا که؟ | چه ښائسته کړے شوی ګاده ته | د ده بد عملونه | او دوئ پیروی وکړه

ولاړ دی هغوئ د داسے خلقو سره برابرکیدے شی چه خپله بد عملی ورته ښائسته ښکاری | او په خپلو نفسانی

أَهْوَاءَهُمْ ⑭ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ فِيهَا

د خپلو خواهشاتو | حال | د هغه جنت | د کوم چه | وعده کولے شی | پرهیزګارانو سره | (دا دے) چه په دے کښے به وی

خواهشونو پسے روان دی | د کوم جنت چه پرهیزګارو سره لوظ شوے دے | هغه دا دے جنت دے

أَنْهَارٌ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِنْ لَبَنٍ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ

نهرونه | د داسے اوبو | چه خرابے به نه وی | او نهرونه | د پیو | چه نه به ئے بدلیږی | خوند د هغے | او نهرونه دی

چه د (تازه) اوبو نهرونه پکښے بهیږی چه هیچرے نه سخا کیږی او د داسے شودو ولے چه خوند ئے بو پورے نه بدلیږی او د خمرو

مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ ۚ وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى ۖ وَلَهُمْ

له شرابو نه | خوند ورکوونکی | څښونکو ته | او نهرونه دی | له شهدو صاف کړے شوو نه | او دوی د پاره

د پاره د خوند ناکو شرابو ولے . او د داسے شهدو نهرونه چه بالکل صفا به وی . او هلته به ورله

فِيهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ مِنْ رَبِّهِمْ ۖ كَمَنْ

هلته | هر قسم | میوے به وی | او بخښنه | د خپل رب له طرف نه | (آیا دوی) په شان د هغه چا

د هر قسم میوے حاضرے وی او د خپل رب د طرف نه به ورته بخښنه وی . نو آیا داسے خلق د هغه

هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ ⑮

چه همیشه به وی | په اور کښے | او څښولے به شی په دوی | اوبه | یشیدلے | چه ټکړے به کړی | کولمے د دوی

چا په شان کیدے شی چه تل به په اور کښے پراته وی او یشیدلے اوبه به پرے څښولے شی چه کولمے به ورله ټوټے (ټکړے) وغورزوی

وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۖ حَتَّىٰ إِذَا خَرَجُوا مِنْ عِنْدِكَ

او څوک له دوی نه | هغه دی | چه اوری | ستا خبرے | ترڅو چه | هر کله بهرته اوځی | له نزد ستا نه

او څه خلق داسے دی چه تا ته ئے غوږ نیولے وی خو چه ستا د مجلس نه بهر اوځی ،

قَالُوا لِلَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ آنِفًا ۚ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ

نو وائی | هغه کسانو ته | کوموته چه ورکړے شوے دے | علم | چه څه ووئیل پیغمبر | اوس اوس | هم دا هغه خلق دی | چه مهر لګولے دے

نو د علم د خاوندانو نه تپوس نه کوی چه دا اوس ئے څه ووئیل | دا هغه کسان دی چه الله ورله په زړونو

اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ⑯ وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا

الله | د دوئ په زړونو باندے | او دوئ پیروی وکړه | د خپلو خواهشاتو | او هغه کسان چه | لاره ئے موندلے ده

باندے مهرونه لګولی دی ، او په خپلو خواهشونو پسے روان دی او څوک چه په سمه لاره روان دی

زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿١٧﴾ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا

زیات کړو الله دوی ته | هدایت | او ورکړه دوی ته | د دوی پرهیزګاری | پس دوی انتظار نه کوی | سیوا

نو الله هغوی ته نور زیات هدایت کوی او د پرهیزګاری (نور نور) توفیق ورکوی ، نو دا خلق پس د قیامت انتظار

السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ

د قیامت نه | چه هغه په دوی راشی | ناګهانه | نو راغلی دی | د دے نخښے | پس کوم ځائے به وی | دوی د پاره

کښے ناست دی چه ناګهانه پرے راشی نو د هغې نخښے خو رابنکاره شوے دی او څه وخت چه هغه په خپله

اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿١٨﴾ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ

هر کله چه (قیامت) راشی په دوی | نصیحت | پس یقین وکړه | چه نشته هیڅ معبود | سیوا | د الله نه | او معافی وغواړه ته

ورته مخے ته راشی نو بیا به د پوهے وخت چرته وی . نو (اے نبی!) ته یقین سا ته چه د الله نه سیوا بل معبود نشته او د خپلے خطا ئې

لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ

د خپلے ګناه | او د پاره د مؤمنانو سړو | او د مؤمنانو ښځو | او الله | پیژنی | ستاسو د ګرځیدو ځائے

په حقله معافی غواړه او د مؤمنانو سړو او د مؤمنانو ښځو د پاره هم ، او الله تعالیٰ ته ستاسو د ګرځیدو او د استوګنے ځایونه

وَمَثْوٰىكُمْ ﴿١٩﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ

او د استوګنے ځائے | او وائی | هغه خلق چه | ایمان ئې راوړو | ولے نازل نه شو | یو سورت | پس هر کله چه

ټول ښه معلوم دی . او د ایمان والا وائی چه (د جهاد په حقله) یو نوے سورت ولے نازل نه شو ؟ بیا هر کله چه

اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ الَّذِيْنَ

نازل کړے شو | یو سورت | محکم | او ذکر وشو | په هغې کښے | د جنګ | نو وینے ته | هغه خلق چه

داسے سورت رانازل شی ، چه په هغې کښے د جهاد ذکر وی نو ته هغه خلقو ته ګورے

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ

په زړونو د دوی کښے | بیماری ده | دوی ګوری | ستا طرف ته | لکه چه ګوری | هغه کس چه بے هوشی راغلی وی | په هغه

د کوم په زړه کښے چه (د نفاق) بیماری ده هغوی ستا طرف ته د هغه چا په شان ګوری په چا چه د مرګ بے هوشی

مِنَ الْمَوْتِ ۗ فَاَوْلٰى لَهُمْ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ ۫ فَاِذَا عَزَمَ

د مرګ | پس تباهی ده دوی د پاره | حکم منل | او خبره | نیکه کول (لازم دی) | بیا هر کله چه | اراده وکړه شی

خوره وی ، پس هغوی د پاره هلاکت دے ، فرمانبرداری کول پکار دی او ښه خبره کول پکار دی خو چه (د جهاد) فیصله

الْاَمْرُ ۫ فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ

د کار | پس که چرے | دوی رښتینی شول | الله سره | نو بهتره ده | دوی د پاره | پس آیا | تاسو نه دا امید دے

وشوه نو که د غه وخت هم دوی د الله تعالیٰ سره رښتینی ئې نو ورله به چیره ښه وه بیا له تاسو نه دا هم توقع ده

اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْٓا اَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾ اُولٰٓئِكَ

که چرے تاسو مخ واړوی | نو فساد به وکړئ | په زمکه کښے | او پرے به کړئ | خپلے رشتے | هم دا خلق

که چرته تاسو (د جهاد او ایمان نه) مخ واړوئ چه د زمکے په مخ فساد خور کړئ او د خپلو لنئ تعلقات ختم کړئ ، د غه خو هغه

الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَاَصَمَّهُمْ وَاَعْمٰۤى اَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ

هغه خلق دي | چه لعنت وکړو په دوی | الله | پس کاڼه ئې کړل دوی | او ړندې ئې کړې | سترګې د دوی | نو آيا دوی غور نه کوی

کسان دی چه الله تعالیٰ پرې لعنت وروولی دی نو کاڼه کړی ئې دی او سترګې ئې ورله ړندې کړی دی. نو آيا دوی په قرآن کښې

الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ ارْتَدُّوْا

په قرآن کښې | يا په زړونو باندې | د دوی تالې پرتې دی | بيشکه کوم خلق چه | اپوته ګرځيدل

فکر نه کوی يا د دوی په زړونو باندې تالې لګيدلې دی؟ بيشکه هغه خلق چه د هدايت

عَلٰۤى اَدْبَارِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطٰنُ

په شا ګانو خپلو | پس له دې نه | چه ښکاره شوه | دوی ته | لاره د هدايت | شيطان

د ښکاره کيدو نه پس هم مرتد شول، شيطان د دوی (عملونه)

سَوَّلَ لَهُمْ ۗ وَاَمْلٰى لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ

(دا کار) ښائسته کړو | دوی ته | او مهلت ئې ورکړو دوی ته | دا | ځکه چه دوی به | وئيل | هغه خلقو ته

د دوی په نظر کښې ښائسته کړل او دوی له ئې اوږدې اُميدونه ورکړل، دا په دې وجه چه دوی هغو خلقو ته کوم چه

كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيْعُكُمْ فِىْ بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ

چه ناخوښه ئې کړل | هغه څه چه نازل کړل | الله | چه ډير زر به مونږ ستاسو خبره منو | په څه | کار کښې

د الله تعالیٰ د نازل کړی کتاب نه بيزاره دی، دا وئيل چه مونږ به ستاسو څه خبرې منو.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾ فَكَيْفَ اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

او الله | پوهيږی | د دوی په پټو خبرو | پس څه حال به وی | هرکله چه د دوی روح قبض کوی | فرښتې

او الله تعالیٰ د دوی په پټو خبرو ښه پوهيږی. نو هغه وخت به د دوی څه حال وی چه فرښتې به ئې روحونه اخلی

يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَاۤ

چه وهی به | مخونه د دوی | او شاګانې د دوی | دا | په دې وجه چه دوی | پيروی ئې وکړه | د هغه خبرې

او مخونه او شاګانې به ورله وهی. دا ځکه چه دوی په هغه لاره لاړل چه الله تعالیٰ

اَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿٢٨﴾

چه ناراضه ئې کړو | الله | او دوی ناخوښه کړه | د هغه رضامندی | نو هغه برباد کړل | د دوی عملونه

پرې ناراضه شو، او د هغه د رضا (د کارونو) نه بيزاره شول نو الله تعالیٰ د دوی عملونه برباد کړل.

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ ﴿٢٩﴾

آيا | خيال وکړو | هغه کسانو چه | په زړونو د هغوی کښې | بيماری ده | چه هيڅ کله به ښکاره نه کړی | الله | کينې د دوی

آيا د چا په زړونو کښې چه مرض پروت دے هغوی دا ګمان کوی چه الله به هيڅ کله د هغوی د دښمنئ نه دا بهر سيره کوی؟

وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ؕ

او که چرې غوښتے مونږ | نو ښودلی به وو مونږ تا ته دوی | پس خامخا به پيژندلی وو تا دوی | په نښه د دوی د شکل نه

او که چرے مونږ غوښتے نو مونږ به تا ته هغه خلق ښودلی وو نو تا به د هغوی د مخونو نه هغوی پيژندلی ده

وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِیۡ لَحۡنِ الۡقَوۡلِ ؕ وَاللّٰهُ یَعۡلَمُ اَعۡمَالَکُمۡ ﴿۳۰﴾ وَلَنَبۡلُوَنَّکُمۡ

او خامخا به ته وپېژنې دوی | د طرز کلام نه | او الله | پېژني | عملونه ستاسو | او خامخا به موږ آزمېښت وکړو په تاسو

او د خبرو په طرز خو به ئې (ضرور هم) وپېژنې ، او الله تعالیٰ ته ستاسو د ټولو عملونو په ښه شان معلوم دي او موږ به ضرور ستاسو

حَتّٰی نَعۡلَمَ الۡمُجٰهِدِیۡنَ مِنۡکُمۡ وَالصّٰبِرِیۡنَ ۙ وَنَبۡلُوَا۠ اَخۡبَارَکُمۡ ﴿۳۱﴾

تر دې چې | موږ معلوم کړو | مجاهدین | له تاسو نه | او صبر کوونکي | او وآزمایو | ستاسو حالات

آزمېښت کوو چې مجاهدین او (په میدان کې) ټینګ او دریډونکي درکښې څرګند وپېژنو او ستاسو د حالت اندازه واخلو .

اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوۡلَ

بېشکه | کوم خلق چې | انکار وکړو | او منع ئې کړل (خلق) | د لارې نه | د الله | او مخالفت ئې وکړو | د پېغمبر

څوک چې کافران شول ، او خلق ئې د الله تعالیٰ د لارې نه منع کړل ، او د رسول مخالفت ئې وکړو

مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمُ الۡهُدٰی ۙ لَنۡ یَّضُرُّوا اللّٰهَ شَیۡئًا ؕ

پس له دې نه چې | واضح شوه | په دوی | سمه لاره | دوی به هیڅکله ضرر ونه رسوي | الله ته | د څه څیز

پس له دې نه چې سمه لاره هغوی ته واضحه شوه ، نو هغوی به الله تعالیٰ ته هیڅ ضرر ورنه کړے شي .

وَسَیُحۡبِطُ اَعۡمَالَهُمۡ ﴿۳۲﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِیۡعُوا اللّٰهَ وَاَطِیۡعُوا

او ژر به ضائع کړي | د دوی عملونه | اے ایمان والو ! | حکم منئ | د الله | او حکم منئ

او الله تعالیٰ به د دوی عملونه برباد کړي . اے مؤمنانو ! د الله تعالیٰ حکمونه منئ او د رسول په

الرَّسُوۡلَ وَلَا تُبۡطِلُوۡۤا اَعۡمَالَکُمۡ ﴿۳۳﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا

د رسول | او مه ضائع کوئ | خپل عملونه | بېشکه | هغه خلق چې | انکار ئې وکړو | او منع ئې کړل (خلق)

وینا عمل کوئ او خپل عملونه مه بربادوئ . بېشکه څوک چې کافران شول او خلق ئې د الله تعالیٰ

عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوۡا وَهُمۡ کُفَّارٌ فَلَنۡ یَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَهُمۡ ﴿۳۴﴾

د لارې نه | د الله | بیا دوی مړه شول | او دوی کافران وو | نو هیڅ کله به ونه بخښي | الله | دوی لره

د لارې نه منع کړل ، بیا هم دغسې کافران مړه شول نو الله تعالیٰ به هغوی هیڅکله ونه بخښي .

فَلَا تَهِنُوۡا وَتَدۡعُوۡۤا اِلَی السَّلۡمِ ٭ۖ وَاَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ ٭ۖ وَاللّٰهُ

پس تاسو سستي مه کوئ | او دعوت مه ورکوئ | صلحې طرف ته | او هم تاسو به | غالب یئ | او الله

نو تاسو همت مه بایلئ او (د دښمنانو) د روغې جوړې دعوت نه مه ورکوئ او هم تاسو به غالب یئ . او الله تعالیٰ

مَعَکُمۡ وَلَنۡ یَّتِرَکُمۡ اَعۡمَالَکُمۡ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا الۡحَیٰوۃُ الدُّنۡیَا لَعِبٌ

تاسو سره دے | او کله به هیڅکله نقصان درنه کړي تاسو ته | ستاسو عملونو کښې | بېشکه | ژوند | د دنیا | لوبې

ستاسو ملګرے دے او ستاسو په عملونو کښې به هیڅ کمے نه راولي . د دنیا دا ژوند خو بس لوبې تماشې

وَّلَهۡوٌ ؕ وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَتَتَّقُوۡا یُؤۡتِکُمۡ اُجُوۡرَکُمۡ وَلَا یَسۡـَٔلۡکُمۡ

او تماشه ده | او که چېرے تاسو ایمان راوړئ | او پرهیزګاري وکړئ | نو ورکړي به تاسو ته | ستاسو اجر | او نه به غواړي له تاسو نه

دي ، او که تاسو ایمان راوړئ او پرهیزګار پاتې شوئ نو الله تعالیٰ به تاسو ته اجرونه درکړي او هغه تاسو نه مالونه

أَمْوَالَكُمْ ﴿٣٦﴾ إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا وَيُخْرِجْ

ستاسو مالونه | كه چرې دوی وغواړي له تاسو هغه (مال) | بیا تنګ كړي تاسو | نو تاسو به شومتیا وكړئ | او راوبه باسي

نه غواړي كه هغه درنه مالونه وغواړي او ترینه بسنه ئې درنه غواړي نو تاسو به شومتیا وكړئ او په دے به

أَضْغَانَكُمْ ﴿٣٧﴾ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

پټے كینے ستاسو | واورئ! تاسو خو | هغه (خلق) یئ | چه تاسو بللے شئ | چه خرچ وكړئ | په لاره كښے | د الله

ستاسو خفګانونه راښكاره كړي هو! تاسو داسے خلق یئ چه څه وخت درته د الله په لار كښے د مال لګولو بلنه دركولے شي

فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ

پس څوك له تاسو نه | هغه دي چه بخل كوي | او څوك چه | بخل كوي | نو بیشكه | هغه بخل كوي | د خپل ذات خلاف

نو څوك دركښے داسے شته چه شومتیا وكړي او څوك چه شومتیا وكړي نو هغه د خپل ځان سره شومتیا كوي

وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا

او الله | غني دے | او تاسو | محتاج یئ | او كه چرې مخ واړوئ تاسو | نو په بدل كښے به راولي الله | یو بل قوم

او الله تعالیٰ غني (بادشاه) دے او تاسو ورته حاجتمند یئ او كه تاسو مخ واړولو نو ستاسو په ځائے به یو بل قوم

ع ٤

غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا أَمْثَٰلَكُم ﴿٣٨﴾

تاسو نه علاوه | بیا به | هغه نه وي | په شان ستاسو |

راپیدا كړي چه هغوئ به ستاسو په شان (مخ اړونكي) نه وي۔

سُورَةُ الْفَتْحِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

سورة فتح په مدینه كښے نازل شوې | شروع كوم په نوم د الله چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم كوونكے دے | په دے كښے ٢٩ آیتونه او ٤ ركوع دي

د الله پاك په نوم شروع كوم چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ

بیشكه مونږ فتح دركړه | تاته | فتح | ښكاره | چه معاف كړي | تا د پاره | الله | هغه څه چه وړاندې تیر شوي دي

بیشكه مونږ تاته جاري باري فتح دركړه۔ چه الله تعالیٰ ستا وړاندینئ او وروستنئ ټول

مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ

له ګناه ستا نه | او هغه څه چه وروستو پاتے شوي دي | او پوره كړي | خپل نعمت | په تا باندې | او چه وښائي تاته

خطاګانے معاف كړي ، او خپل نعمتونه درباندې پوره كړي او په سمه نیغه

صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾ وَيَنصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴿٣﴾ هُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ

لاره | سمه | او مدد دركړي تاته | الله | مدد | زبردست | هم هغه دے | چا چه | نازل كړه

لار دې بوځي۔ او الله تعالیٰ درله په عزت سره برے دركړي۔ الله تعالیٰ هغه ذات دے چه

السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓا إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ ۗ

اطمینان | په زړونو كښے | د مؤمنانو | چه نور زیات شي | په ایمان كښے | د خپل ایمان سره

د مؤمنانو په زړونو كښے ئے اطمینان پیدا كړو چه د هغوئ د خپل وړومبي ایمان سره نور ایمان هم سیوا شي۔

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝٤

اوالله دپاره دی | لښکرے | دَ آسمانونو | اودَ زمکے | او دے | الله | پوهه | خاوند دَحکمت

او دَ آسمانونو اودَ زمکے ټولے لښکرے دَالله تعالیٰ دی اوالله تعالیٰ په هرڅهٔ پوهه دَے دَ حکمتونو خاوند دے

لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

چه داخل کړی الله | مؤمنان سړی | او مؤمنانے ښځے | په باغونو کښے | چه بهیږی به | لاندې دَهغے نه | نهرونه

چه الله تعالیٰ مؤمنان سړی اومؤمنانے ښځے داسے باغونو ته ورننباسی چه دَ هغے لاندې به ویلے بهیږی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا

همیشه به وی | په هغے کښے | اولرے به کړی | له دوی نه | بدیانے دَدوی | او دَه | دا | په نزد دَ الله | کامیابي

تل به پکښے اوسیږی او چه گناهونه ورته معاف کړی او دغه دَ الله تعالیٰ په نزد غټه

عَظِيْمًا ۝٥ وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ

لويه | او دے به عذاب ورکړی | منافقانو سړو | او منافقانو ښځو | او مشرکانو سړو | او مشرکانو ښځوته

کامیابي ده او الله تعالیٰ به سزا ورکړی منافقانو سړو او منافقانو ښځو او مشرکانو سړو او مشرکانو ښځو له

الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ۚ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ

چه گمان کوونکی دی | په الله | گمان بد | هم په دوی دے | چکر | بد | او غضب وکړو

چه دَ الله تعالیٰ په حقله بدگمانی کوی ، په هغوی بانډې بد ورځ راتلونکے ده ، او الله تعالیٰ په

اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۚ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝٦

الله | په دوی بانډې | او لعنت ئے وکړو په دوی | او تیار کړے ئے دے | دوی دپاره | دوزخ | او بد ځائے دے | دَ واپس کیدو

ورته ډیر قهرجن دی او دَ خپل رحمت نه ئے لرے کړی دی او دوزخ ئے ورله تیار ساتلے دے او دغه ډیره خرابه ځایگاه ده

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝٧

او الله دپاره دی | لښکرے | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | او دے | الله | غالب | دحکمت خاوند

او دَ آسمانونو او دَ زمکے ټولے لښکرے دَالله تعالیٰ دی او الله تعالیٰ زبردست دے دَحکمتونو خاوند دے.

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝٨ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

بیشکه مونږ راولیږلے ته | گواه | او زیرے ورکوونکے | او ویروونکے | چه ایمان راوړئ تاسو | په الله | او دَ دهٔ په رسول

بیشکه چه مونږ ته گواهی کوونکے او زیرے ورکوونکے او (دَ دوزخ نه) ویروونکے (پیغمبر) لیږلے ئې چه (اے خلقو!) تاسو په الله او دَ دهٔ په رسول

وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ۚ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝٩ اِنَّ الَّذِيْنَ

او دَ دهٔ مدد وکړئ | او دَ دهٔ عزت وکړئ | او دَ الله تسبیح وکړئ | صبا | او | ماښام | بیشکه | هغه کسان چه

ایمان راوړئ او دَ دهٔ (دَ دین) مدد کوئ او دَ دهٔ تعظیم کوئ او سحر ماښام دَ دهٔ پاکی بیانوئ . څوک چه تا نه لاس نیوے

يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ۚ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ

بیعت کوی له تا سره | بیشکه چه | دوی بیعت کوی | الله سره | لاس دَ الله دے | دَ پاسه دَ لاسونو دَ دوی | پس څوک چه

کوی هغوی (په حقیقت کښے) دَ الله تعالیٰ سره بیعت کوی ، دَ الله تعالیٰ لاس دَ هغوی دَ لاسونو دَ پاسه پروت دے ، نو بیا څوک

نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيْهُ

ماته کړي (وعده) | نو بېشکه ګډې ماتوي | دَ خپل ځان خلاف | او څوک چه پوره کړي | هغه څۀ | چه وعده ئې کړې ده په هغې

چه خپل لوظ مات کړي نو دَ دۀ دَ بد لوظۍ سزا به هم دۀ ته ملاوېږي او څوک چه دا لوظ کوم چه دۀ دَ الله سره کړے

ٱللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٠﴾ سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ

دَ الله سره | پس زر به ورکړي دۀ ته | اجر | لوئے | زر به ووائي | تا ته | وروستو پاتے شوي خلق

دے پوره کړي نو الله به ډېر زر دۀ ته ډېر لوئے اجر ورکړي. کوم بانډېځیان چه (په دې سفر کښې) وروستو پاتے شوي

مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا فَٱسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ

له بانډو دَ خلقو نه | مشغول کړو مونږ | مالونو زمونږ | او اهل زمونږ | پس بخښنه وُغواړه | دَ پاره زمونږ

وو هغوئ به درته ووائي چه مونږ زمونږ مال او بال بچ مشغول وُساتلو (او په جهاد کښې شريک نۀ شو) نو زمونږ دَ پاره (دَ الله نه)

يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِى قُلُوبِهِمْ ۚ قُلْ فَمَن يَمْلِكُ

دوي وائي | په ژبو خپلو | هغه څۀ | چه نۀ دي | په زړونو دَ دوئ کښې | ووايه | چه څوک | اختيار لري

معافي وُغواړه دوئ به خپلو ژبو باندې هغه خبرے کوي چه دَ دوئ په زړونو کښې نشته، ته ورته ووايه چه هغه څوک دي چه دَ الله

لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًۢا ۚ

تاسو دَ پاره | دَ الله مخکښې | دَ څۀ څيز | که چرے | دے وغواړي تاسو ته | نقصان رسول | يا وغواړي | تاسو ته | فائده رسول

په معامله کښې تاسو دَ پاره څۀ اختيار ولري که چرے هغه تاسو ته څۀ نقصان رسول وغواړي يا تاسو ته فائده درکول وُغواړي (څوک

بَلْ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًۢا ﴿١١﴾ بَلْ ظَنَنتُمْ أَن

بلکه | دے الله | په هغه څۀ | چه تاسو ئې کوئ | خبردار | (نه) بلکه | خيال کړے وو تاسو | چه

څۀ کولے نۀ شي) نه بلکه الله تعالىٰ ستاسو دَ ټولو دَ عملونو نه خبردے. تاسو خو يقين کړے وو چه دا رسول او

لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ

هيڅ کله به واپس نۀ ګرځي | رسول | او مؤمنان | خپلو کورونو والو ته | هميشه | او ښۀ ښکاره شو

(په جهاد کښې شريک) مؤمنان به چرے هم خپلو کورونو ته واپس رانۀ شي او دا خبره درته په

ذَٰلِكَ فِى قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ وَكُنتُمْ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٢﴾

دا خبره | ستاسو زړونو ته | او تاسو ګمان وکړو | ګمان بد | او شوئ تاسو | قوم | هلاک شوے

خپلو زړونو کښې ښائسته ښکاره شوے وه او تاسو ډېره بدګماني کړے وه او هم په خپله برباد شوئ

وَمَن لَّمْ يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ

او څوک چه | نۀ | راوړي ايمان | په الله | او دَ دۀ په رسول | نو بېشکه مونږ تيار کړے دے | دَ کافرانو دَ پاره

او څوک چه په الله تعالىٰ او دَ دۀ په رسول باندې ايمان نۀ راوړي نو مونږ دَ کافرانو دَ پاره دَ دوزخ اور تيار

سَعِيرًا ﴿١٣﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ

اور | او الله دَ پاره دے | حکومت | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | بخښنه کوي هغه چا ته | چه وغواړي

کړے دے. او دَ آسمانونو او دَ زمکے بادشاهي يوازے دَ الله تعالىٰ ده، دَ چا په حقله چه وغواړي، بخښنه ورکړي

وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٤﴾ سَيَقُوْلُ

او عذاب ورکوي ته | چاته چه غواړي | او دے الله | بخښونکے | مهربان | ژر به ووائي

او چا له چه وغواړي په عذاب ئے اخته کړي ، او الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے . د غزا نه وروستو پاتے کیدونکي

الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ

وروستو پاتے شوي خلق | هر کله چه | روان شئ تاسو | د غنیمتونو طرف ته | چه تاسو را واخلئ هغه | پریږدئ مونږ | چه روان شو مونږ تاسو سره

خلق (چه په جهاد کښے شریک نه وو) به درته ووائي ' څه وخت چه تاسو په غنیمتونو اخستو پسے روان شئ چه مونږ هم پریږدئ

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ

دوي غواړي | چه بدل کړي | حکم د الله | ووایه | هیڅ کله به پیروي نه کوئ تاسو زمونږ | هم دغسے

چه درپسے درشو ' دوي غواړي چه د الله تعالیٰ حکم بدل کړي ' (اے نبي!) ته ووایه چه تاسو هیڅ کله هم مونږ سره تلے نه شئ

قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ كَانُوْا

د فرمائیلي | الله | له دے نه وړاندې | پس دوي به ووائي | چه (نه) بلکه | تاسو حسد کوئ مونږ سره | (نه) بلکه | دوي

الله تعالیٰ د وړاندې نه دغسے فرمان کړے دے پس دوي به ووائي چه نه ! بلکه تاسو مونږ سره کینه ساتئ ، رښتیا خبره

لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٥﴾ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ

نه پوهیدل | مګر | لږ | ووایه | وروستو پاتے شوو ته | له بانډو د خلقو نه

دا ده چه دوي به سمه خبره کم کوز پوهیږي . (اے نبي!) ته وروستو پاتے کیدونکو بانډیچیانو ته ووایه چه

سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِىْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ

چه ډیر زر به تاسو راوبللے شئ | د یو قوم طرف ته | چه په جنګ کښے | ډیر سخت دي | چه جنګ به کوئ تاسو هغوي سره

ډیر زر به تاسو د یو داسے قوم مقابلے کولو ته راوبللے شئ چه هغوي به ډیر سخت جنګیالي خلق وي (نو) یا به ورسره لګیا یئ

اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا

یا به هغوي اسلام قبول کړي | بیا که چرے | تاسو حکم ومنئ | نو ورکړي به تاسو ته | الله | اجر | نیک | او که چرے تاسو مخ واړوئ

جنګونه کوئ او یا به هغوي مسلمانان شي . بیا که چرے تاسو حکم ومنئ نو الله به تاسو له ښه اجر درکړي او که چرے تاسو مخ واړوئ

كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٦﴾ لَيْسَ

لکه څنګه چه | تاسو مخ اړولے وو | له دے نه وړاندې | (نو) دے به عذاب درکړي تاسو ته | عذاب | دردناک | نشته دے

لکه څنګه چه مو وړاندې مخ اړولے وو نو الله تعالیٰ به تاسو له دردناک عذاب درکړي - نه په ړوند

عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ

په ړوند باندې | څه ګناه | او نه | په شل باندې | څه ګناه | او نه | په بیمار باندې

باندې څه ګناه شته ، او نه په ګوډ شل باندې څه ګناه شته او نه په بیمار باندې څه ګناه

حَرَجٌ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

څه ګناه | او څوک چه | حکم ومني | د الله | او د هغه د رسول | داخل به کړي هغه | په باغونو کښے | چه بهیږي به | لاندې د هغے نه

شته او څوک چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ﷺ خبره ومني نو هغه به ګڼ داسے باغونو ته ور داخل کړي چه د هغے لاندې به د

الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ

اللّٰه | راضي شو | بيشكه | دردناك | عذاب | نو ده به عذاب وركړي ده ته | مخ واړوي | او څوك چه | نهرونه

بيشكه الله تعالىٰ د مؤمنانو نه ... له به دردناك عذاب وركړي ، او څوك چه ترې نه مخ واړوي نو هغه ته به دردناك عذاب وركړي ، بهيږي ،

عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا

په هغه څه | پس عالم دی الله | د ونې | لاندې | دوی بيعت وكړو تاسره | كوم وخت چه | له مؤمنانو نه

او الله تعالىٰ ته د هغوی د ... هغه وخت چه هغوی ستا په لاس د ونې لاندې بيعت كولو ، رضا شو

فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾

فتح نږدې | او په بدله كې ئې وركړه دوی ته | په دوی باندې | اطمينان | پس نازل كړو دده | چه د دوی په زړونو كې وو

زړونو خبر (په ښه شان) معلوم وی نو الله تعالىٰ ورله اطمينان نصيب كړو او هغوی ته ئې يوه نږدې (ډيره) گټه وركړه .

وَّمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۹﴾ وَعَدَكُمُ

وعده كړې ده تاسو ته | د حكمت خاوند | ډير غالب | الله | او دے | چه دوی اخلی هغه | ډير | او غنيمتونه

الله تعالىٰ تاسو ... او (ورسره) ډير غنيمتونه چه دا خلق ئې اخلی . او الله تعالىٰ زبردست دے د حكمتونو خاوند دے ،

اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَاْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ وَكَفَّ

او ئې منع كړل | تاسو ته دا | پس ژر ئې دركړو | چه حاصلوئ به تاسو هغه | ډيرو | د غنيمتونو | الله

سره د (نورو) ډيرو غنيمتونو وعده كړې ده چه تاسو به ئې اخلئ نو د هغه نه دا (يوه گټه) ئې لاس په لاس دركړه ، او له تاسو

اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ

او چه وښائي تاسو ته | د مؤمنانو د پاره | نخښه | او د پاره د دې چه وی | له تاسو نه | د خلقو | لاسونه

ئې د خلقو لاسونه منع كړل ، او دا ځكه چه د مؤمنانو د پاره يوه نښه شي ، او چه تاسو په

صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲۰﴾ وَّاُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ

الله | احاطه كړې ده | چه تاسو لا قابو نه دے موندلې په هغې | او دويمه (هغه فتح) | سمه | لاره

سمه نيغه لاره واچوی ، او يوه بله (گټه) هم (نږدې) ده چه لا ستاسو قابو كې نه ده راغلې دغه گټه الله په خپله

بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾ وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه كافران دی | هغه خلق | جنگيدلے تاسو سره | او كه چرې | قادر | په هر څيز باندې | الله | او دے | په هغې

احاطه كې اخستې ده او الله تعالىٰ په هر څيز باندې قدرت لري . او كه دا كافران تاسو ته جنگ له راوړاندې شوی وے

لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ

چه | (دا) د الله دستور دے | او نه څوك مددگار | څوك دوست | نه به وو موندلے دوی | بيا به | شاگانے | نو خامخا به گرځولې وې دوی

نو په شا به تښتيدلی وو ، بيا به ئې نه څوك دوست موندلے وو او نه څوك مددگار . الله تعالىٰ هم دغه دستور ده

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

هغه ذات چه | او هم دے دے | تبديلي | د الله په دستور كې | او هيڅكله به بيا نه مومې ته | له دے نه وړاندې | تير شوی دے

صادر دده چه پخوا را سے جاری راغلی دے او ته به د الله تعالىٰ په دستور كې هيڅ تبديلي بيا نه مومې . او الله تعالىٰ هغه ذات دے

كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ

چه منع ئے کړل | لاسونه دَ دوی | له تاسونه | او ستاسو لاسونه | له هغوئی نه | دَ مکے په وادئ کښے | پس له هغے نه چه

چه دَ هغوئی لاسونه ئے تاسونه او ستاسو لاسونه ئے دَ هغوئی نه دَ مکے په سرحد بانړ ونیول ، دَ هغے نه پس چه

اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿٢٤﴾ هُمُ

دهٔ غالب کړئ تاسو | په دوئ بانړ | او دے الله | په هغه څهٔ چه تاسو ئے کوئ | بینا | هم داهغه خلق دی

تاسو ئے په هغوئی بانړ قابو ورکړو ، او الله تعالیٰ ستاسو کارونه ښه لیدل کتل ۔ داهغه خلق دی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا

کوم چه | انکار وکړو | او منع ئے کړئ تاسو | له مسجد حرام نه | او قربانی | راښع کړے شوے

چه کفر ئے وکړو او تاسو ئے دَ مسجد حرام نه منع کړئ ، او دَ قربانئ څاروی ئے خپل

اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ

(له دے نه) چه ورسیږی | ځائے خپل ته | او که چرته نه وے | سړی | مؤمنان | او ښځے | مؤمنانے

ځائے ته دَ رسیدو نه منع کړل او که چرے دا اندیښنه نه وے چه ډیر مؤمنان سړی او ډیرے مؤمنانے ښځے

لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ

چه نهٔ پیژنئ تاسو هغوئی | چه پائمال به کړئ تاسو دوی | پس وُبه رسیږی تاسو ته | په وجه دَ دوی | نقصان | په بے خبرئ کښے

به تاسو دَ بے پولانئ چغړی کړئ دَ کوم په وجه چه به (پس له هغے نه) تاسو ته خفګان رسیدٔ (نو تاسو له به ئے اوس فتح درکړے وه)

لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا

دَ پاره دَ دے چه داخل کړی | الله | په خپل رحمت کښے | څوک چه | دے وغواړی | که چرته دا خلق جدا وُو | نو خامخا به عذاب ورکړے وو

الله تعالیٰ چه دَ چا په حقله وُغواړی هغوئی په خپل رحمت کښے داخل کړی ، که دغه (بے کسه) مسلمانان بیوا ړخ ته شوی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٢٥﴾ اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغه خلقو ته | چه کافران دی | له دوی نه | عذاب | دردناک | هر کله چه (پیدا) کړو | هغه خلقو چه | کافران دی

وے نو موږ به کافرانو له دردناک عذاب ورکړے وو ۔ څهٔ وخت چه کافرانو په خپلو

فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ

په خپلو زړونو کښے | ضد | ضد | دَ جاهلیت (دَ زمانے) | بیا نازل کړو | الله

زړونو کښے دَ جاهلیت دَ زمانے په شان دَ ضد پخه اراده وکړه ، نو الله تعالیٰ خپل رسول

سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ

اطمینان خپل | په خپل رسول بانړ | او په مؤمنانو بانړ | او لازمه ئے کړه په دوئ بانړ | خبره

او مؤمنانو ته دَ تحمّل او برداشت طاقت ورکړو او دوئ ئے دَ پرهیزګارئ په خبره

التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

دَ پرهیزګارئ | او | وُو دوی | زیات حقدار | دَ دے | او اهل دَ دے | او دے | الله

ټینګ کړل او هم دوئ دَ نورو نه زیات دَ دے څیز حقدار او اهل وو ، او الله تعالیٰ په هر څیز

ع ۲/۹ ۱۱

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾ لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ

په هر څیز بانډې | پوهه | بیشکه | رښتیا ښکاره کړو | الله | خپل رسول ته | خوب | په حق سره

پوره پوره پوهه دے. بیشکه چه الله تعالیٰ خپل رسول ﷺ ته رښتینے خوب ښودلے دے.

لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ مُحَلِّقِينَ

چه خامخا به داخل شئ تاسو | مسجد | حرام ته | که چرے الله وغواړی | په امن سره | خرئیونکی

که الله تعالیٰ ته منظوره وه نو تاسو به مسجد حرام ته په اطمینان سره ورننوزئ ، سرونه

رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا

د سرونو خپلو | او ویښته پریکوونکی | تاسو به نه ویریږئ | پس ده معلومه کړه | هغه خبره چه | تاسو ته نه وه معلومه

خرئیونکی او ویښته پریکوونکی چه هیڅ اندیښنه به مو نه وی نو الله تعالیٰ ته هغه څه معلوم وو چه تاسو ترے نه

فَجَعَلَ مِنْ دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ

نو ورکړه ده | وړاندې له دے نه | فتح نزدے | هم دے دے هغه ذات چه | راوی لیږلو | خپل رسول

خبرنه وئ نو الله تعالیٰ د هغے نه وړاندې یوه نزدے کتح درکړه . هم دغه (الله) خو دے چه خپل رسول (محمد ﷺ) ئے د

بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَىٰ

په هدایت | او حق دین سره | د پاره د دے چه غالب کړی دا | په دینونو | ټولو | او کافی دے

(کتاب د) هدایت او د حق دین سره رالیږلو چه دا دین په نورو ټولو دینونو بانډې غالب کړی او د حق د ګواهئ

بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴿٢٨﴾ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ

الله | ګواه | محمد ﷺ | رسول دے | د الله | او کوم خلق چه | د ده سره دی | سخت دی | په کافرانو

د پاره الله تعالیٰ کافی دے. محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے او کوم خلق چه ورسره ملګری دی هغوئ کافرانو د پاره سخت

رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ

مهربان دی | په خپل مینځ کښے | ته به وینے دوی | رکوع کوونکی سجده کوونکی | دوی لټوی | فضل | د الله

او په خپل مینځ کښے مهربان دی ، ته ئے وینے کوبے چه کله په رکوع ټیټ وی او کله په سجده پراته وی ، د الله تعالیٰ فضل او رضامندی

وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَٰلِكَ

او رضامندی | نخښه د دوی | په مخونو د دوی کښے ده | د سجدو له اثره | دا

غواړی ، د هغوئ په مخونو کښے د سجدو د اثر نخښے څرګندے ښکاری ، دا په

مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ

مثال د دوی دے | په تورات کښے | او مثال (صفت) د دوی دے | په انجیل کښے | په شان د فصل دے

تورات کښے د هغوئ اوصاف راغلی دی او د هغوئ هم دا اوصاف په انجیل کښے دی ، لکه پټے چه تیغه

معانقة ۱۵

أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ

چه راویستلے ئے ده | تیغه | بیائے دا قوی کړه | بیا هغه غټه شوه | بیا هغه ودریدله | په خپله تنه بانډې

راوباسی غوټه کړی ، بیائے کلکه کړی ، بیا هغه غټه شی نو په خپله تنه بانډې نیغه ودریږی ،

يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

چه خوشحالوي ئې | زميندار ان | چه په غصه کړي | په دے سره | کافران | وعده وکړه | الله | هغه کسانو سره

چه زميندارانو ته ښکلے ښکاري (دا ترقي د مسلمانانو ته ځکه ورکړه) چه کافران پرے غصه کړي - الله تعالیٰ هغه خلقو سره چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٢٩﴾

چه ايمان ئې راوړيو | او دوي عمل وکړو | نيک | له دوي نه | د بخښنې | او د اجر | لوئے

ايمان ئې راوړے او نيک کارونه ئې وکړل ، د بخښنې او د لوئے اجر لوظ کړے دے۔

سُوْرَةُ الْحُجُرٰتِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانِيْ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورۀ حجرات په مدينه کښے نازل شوے او | شروع کوم په نوم د الله چه ډير مهربان ډير زيات رحم کونکے دے | په دے کښے ١٨ آيتونه او ٢ رکوع دي

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان ډير زيات رحم خاوند دے۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا

اے ايمان والو! | مه وړاندې کيږئ | په مخکښې | د الله | او د هغه د رسول | او ووېريږئ

اے مسلمانانو ! تاسو د الله تعالیٰ او د رسول نه (په هيڅ کار کښې) ځان وړاندې کوئ مه او د الله تعالیٰ نه وېريږئ

اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْۤا

د الله نه | بيشک الله | آوريدونکے | پوهه دے | اے ايمان والو! | مه وچتوئ

ساتئ - الله تعالیٰ ډير آوريدونکے ښه پوهه دے۔ اے مؤمنانو ! خپل آوازونه

اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ

خپل آوازونه | د پاسه | د آواز | د نبي | او مه | په زوره خبره کوئ | د ده سره | په خبرو کښے

د نبي د آواز د پاسه مه وچتوئ او مه هغه سره په زوره خبره کوئ

كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ

لکه چه په زوره (خبرے کوئ) | تاسو د يو بل سره | چه ضائع به شي | عملونه ستاسو | او تاسو ته به

لکه چه تاسو د يو بل سره په زوره خبرے کوئ هسے نه چه ستاسو ټول عملونه ضائع شي او تاسو پرے

لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿٢﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

خبر هم نه وي | بيشکه | کوم خلق چه | ښکته ساتي | آوازونه خپل | په نزد | د الله د رسول

خبر هم نه شئ - بيشکه کوم خلق چه د الله تعالیٰ د رسول په وړاندې خپل آوازونه ښکته ساتي

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ

هم دا هغه کسان دي | چه آزمائيلي دي | الله | زړونه د دوي | د پاره د پرهيزګارۍ | د دوي د پاره | بخښنه

هم دا هغه خلق دي د کومو زړونه چه الله تعالیٰ د پرهيزګارۍ آزمائيلي دي. هغوي له بخښنه او ډير

وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ

او اجر | لوئے دے | بيشکه | کوم خلق چه | آواز کوي تا ته | له وروستو | د کوټونه

لوئے اجر مقرر دے څوک چه تا ته د کوټو د بهر نه چغے وهي

اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ

اکثر له دوی نه | نهٔ پوهیږی | اوکهٔ چرے دوئی | صبر کړے وے | تر دے چه | ته بهر راوتلے وے | دوئی ته

په هغوئی کښے اکثر کسان بے عقله دی. اوکهٔ دوئی لږ صبر کولے تر دے چه تهٔ پخپله ورته بهر راوتلے

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ

نو وهٔ به | بهتره | دوی دپاره | او الله | بخښونکے | مهربان دے | اے ایمان والو ! | کهٔ چرے

نو دا به د دوئی په حق کښے بهتره وه او الله تعالیٰ بخښونکے ډیر رحم کونکے دے اے مؤمنانو ! کهٔ یو شریر

جَاۗءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا

راوړی تاسو ته | (څوک) بدکار | څهٔ خبر | نو تحقیق وکړئ | چه نقصان به ورسوئی تاسو | یو قوم ته

سړے در ته څهٔ خبر راوړی نو ښهٔ تحقیق کوئ هسے نه چه په ناپوهئ کښے یو قوم ته

بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰي مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ﴿۶﴾ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ

په ناپوهئ سره | بیا به شئ تاسو | په هغه څهٔ چه وے کړی تاسو | پښیمانه | او پوهه شئ چه | بیشکه | په تاسو کښے

نقصان ورسوئی او بیا په خپلو کړو باندې پښیمانه شئ. او په دے خبره ځان پوهه کړئ چه په

رَسُوْلَ اللّٰهِ ۭ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ

رسول الله دے | کهٔ چرے | دے ستاسو وینا ومنی | په ډیرو | کارونو کښے | نو تکلیف به درته ورسیږی | لیکن

تاسو کښے د الله رسول موجود دے، په ډیرو خبرو داسے وی چه کهٔ هغه په کښے ستاسو وینا ګانے ومنی نو تکلیف به درته ورسی خو

اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ

الله | خوښ کړو | تاسو دپاره | ایمان | او ښائسته ئے کړو دا | ستاسو په زړونو کښے | او کرکه ئے واچوله

الله تعالیٰ تاسو ته د ایمان محبت در نصیب کړے دے او هغه ئے ستاسو په زړونو کښے ښائسته کړے دے ، او کفر

اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ﴿۷﴾ۙ

په تاسو کښے | د کفر | او ګناه | او نافرمانئ نه | هم دا خلق دی | لاره موندونکی

او بد عملی او نافرمانی ئے در ته بد ښکاره کړی دی هم دغه خو په سمه لاره روان خلق دی.

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۸﴾ وَاِنْ

د الله په فضل | او نعمت سره | او الله | پوهه | د حکمت خاوند دے | او کهٔ چرے

د الله تعالیٰ په فضل او په انعام ، او الله تعالیٰ ښهٔ پوهه د حکمتونو خاوند دے. او کهٔ چرے

طَاۗىِٕفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ

دوه ډلے | د مؤمنانو | جنګ کوی د یو بل سره | نو صلح کوئ | د دوئی په مینځ کښے | پس کهٔ چرے

د مؤمنانو دوه ډلو ټولګی په خپل مینځ کښے جنګیږی نو د هغوئی تر مینځ روغه کوئی نو بیا کهٔ چرے

بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَي الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى

زیاتے وکړی | په دے دواړو کښے یوه | په بله باندې | نو جنګ وکړئ تاسو | هغے سره چه | زیاتے کوی | تر دے چه

یو ټولګے په بل باندې زور زیاتے کوی ، نو تاسو هغه ډله سره جنګ کوئ چه زیاتے کوی تر دے چه

تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ

چه رجوع وکړي | دَ الله دَ حکم طرف ته | پس که چرې | رجوع ئې وکړه | نو صلح وکړئ | دَ دې دواړو په مینځ کښې | په انصاف سره

هغه دَ الله تعالیٰ دَ حکم طرف ته راوګرځي، نو که بیرته راوګرځي نو دَ هغوئ ترمینځه په انصاف سره صلح وکړئ

وَ اَقْسِطُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ⑨ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ

او | انصاف کوئ | بیشکه الله | خوښوي | انصاف کوونکي | بیشکه | مؤمنان خلق

او (پوره) انصاف کوئ، یقینًا انصاف دار دَ الله تعالیٰ خوښ وي، بیشکه مؤمنان خو ورونړه

اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ

(دَ یو بل) ورونړه دي | پس صلح کوئ | دَ خپلو دوؤ ورونړو په مینځ کښې | او ویریږئ | دَ الله نه | چه په تاسو

ورونړه دي نو دَ خپلو دوؤ ورونړو ترمینځه روغه راولئ، او دَ الله تعالیٰ نه ویره کوئ چه رحم درباندې

تُرْحَمُوْنَ ⑩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى

رحم وکړے شي | اے ایمان والو! | توقے دې نه کوي | یو قوم | دَ بل قوم پورے | ممکنه ده

وکړے شي۔ اے مؤمنانو! یو ډله دې په بله ډله پورے خندا نه کوي ګوري که

اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ

چه هغه وي بهتر | له دوی نه | او نه ښځے دې | ښځو (پورے توقے کوي) | ممکنه ده | چه هغوئ وي

هغوئ له دوئ نه غوره وي او نه ښځو له په ښځو پورے خندا کانے پکار دي کیدے شي چه هغوئ

خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ بِئْسَ

غوره | له دوئ نه | او مه لګوئ عیب | په یو بل باندې | او مه بلئ یو بل | په (بدو) لقبونو | بد

ترے نه غوره وي او په یو بل باندې عیب مه لګوئ او مه یو بل ته خراب نومونه اخلئ، دَ ایمان

الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

نوم دے | فاسق | پس له ایمان نه | او څوک چه توبه و نه کړي | نو هم دا خلق

نه پس دَ ګناه نوم (لګول) هم خرابه خبره ده، او څوک چه اوس هم توبه و نه کړي نو هم دغه

الظّٰلِمُوْنَ ⑪ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا

ظالمان دي | اے | ایمان والو! | ځانونه وساتئ | له ډیرو

کسان ظالمان دي۔ اے مؤمنانو! دَ ګمان (زغلولو) نه ځان ډیر

مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا

بد ګمانونو نه | بیشکه | ځنے | ګمان | ګناه ده | او جاسوسي مه کوئ

بچ ساتئ۔ یقینًا ځنے بد ګمانونه ګناه وي، او دَ چا راز مه معلوموئ

وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ؕ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ

او غیبت دې نه کوي | ځنے له تاسو نه | دَ ځنو | آیا خوښوي | څوک له تاسو نه | چه هغه خوري

او هیڅوک دې دَ هیچا غیبت نه کوي۔ آیا په تاسو کښې به څوک دا خوښه کړي چه دَ خپل

لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ

غوښه | د ورور خپل | چه مړ وي | پس کرکه کوئ تاسو له هغه نه | او ووېرېږئ د الله نه | بېشکه الله | توبه قبلوونکے

مړ ورور غوښه د وخوري نو دا کار خو ستاسو خوښ نه وي او د الله تعالیٰ نه وېره کوئ یقیناً الله توبه قبلوونکے

رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى

مهربان دے | اے خلقو ! | بېشکه مونږ | پیدا کړئ تاسو | له یو سړي | او له یوې ښځې نه

ډېر رحم کوونکے دے. اے خلقو! مونږ تاسو د یو سړي او د یوې ښځې نه پیدا کړي یئ.

وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ

او جوړ کړل مونږ ستاسو | قامونه | او قبیلې | د پاره د دے چه تاسو یو بل وپېژنئ | بېشکه | زیات عزت والا ستاسو

او مختلف قامونه او قبیلې مو درکښې جوړې کړے چه یو بل وپېژندے شئ. په تاسو کښې الله سره

عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۳﴾ قَالَتِ الْاَعْرَابُ

د الله په نزد | هغه دے چه له تاسو نه زیات پرهیزګار دے | بېشکه الله | پوهه | خبردار دے | ووئیل | د کلو خلقو

زیات عزتمند هغه دے چه زیات پرهیزګار دے الله تعالیٰ په هر څه پوهه زیات خبردار دے. (دا مخے) کلی وال خلق وائی

اٰمَنَّا ؕ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْۤا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا

مونږ ایمان راوړو | ووایه | تاسو ایمان نه دے راوړے | او لیکن | وایئ | چه مونږ اسلام راوړے دے | او لا نه دے

چه مونږ ایمان راوړو، ته ووایه چه تاسو ایمان نه دے راوړے هو دا دے وایئ چه مونږ (سرکښۍ نه) تابع شو او ایمان خو

يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

داخل شوے ایمان | ستاسو په زړونو کښې | او که چرے | تاسو حکم ومنئ | د الله | او د دهٔ د رسول

لا تر اوسه ستاسو په زړونو کښې داخل هم نه دے او که تاسو د الله تعالیٰ او د دهٔ د رسول خبره ومنئ

لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْئًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾

(نو) دے به کم نه کړي | ستاسو له عملونو نه | څه څیز | بېشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے

نو الله تعالیٰ به ستاسو په عملونو کښې د ذرے هومره کے هم رانه ولي، بېشکه الله تعالیٰ بخښونکے ډېر رحم کوونکے دے

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا

بېشکه مؤمنان | هغه خلق دی | چه ایمان ئے راوړو | په الله | او د دهٔ په رسول | بیا | هغوئ شک و نه کړو

بېشکه مومنان (خو) هغه خلق دی چه الله تعالیٰ او د دهٔ په رسول باندې ایمان راوړي، بیا شک نه کوي

وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

او جهاد ئے وکړو | په خپلو مالونو سره | او په خپلو ځانونو سره | په لاره کښې | د الله | هم دا خلق دی

او د الله تعالیٰ په لاره کښې په خپلو مالونو او په خپلو ځانونو سره جهاد کوي، هم دغه خلق

الصّٰدِقُوْنَ ﴿۱۵﴾ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

رښتیا وئیونکی | ووایه | آیا تاسو خبروروکوئ | الله ته | په دین خپل | او الله | پوهیږي

رښتینی دی. ته ووایه آیا تاسو الله تعالیٰ ته د خپلې دینداري خبرورکول غواړئ؟ سره د دے چه الله تعالیٰ

مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ⑯

په هغه څه چه په آسمانونو کښے دی | او څه چه | په زمکه کښے دی | او الله | په هر | څيز | ښه پوهه دے

دَ آسمانونو او دَ زمکے دَ هر څيز نه خبر دے ، او الله تعالیٰ ته (دَدے نه علاوه هم) هر څه معلوم دی

یَمُنُّوْنَ عَلَیْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ؕ قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَیَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ

دوی احسان کوی | په تا باندِ | دَ دے چه دوی مسلمانان شوی دی | ووايه | احسان مه کوئ | په ما باندِ | دَ خپل اسلام راوړلو

داخلق په تا احسان کوی چه موږ اسلام راوړے دے ته ورته وايه چه دَ خپل اسلام راوړلو احسان په ما مه کوئ

بَلِ اللّٰهُ یَمُنُّ عَلَیْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِیْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ

بلکه | الله | احسان لری | په تاسو باندِ | دَ دے چه | دهٔ هدايت وکړو تاسو ته | دَ ايمان | که چرے يئ تاسو

بلکه دا خو دَ الله تعالیٰ په تاسو احسان دے چه دهٔ دَ ايمان طرف ته ستاسو رهنمائی وکړه ، که چرے تاسو

صٰدِقِیْنَ ⑰ اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ غَیْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

رښتينی | بيشکه | الله | پوهيږی | په پټو خبرو | دَ آسمانونو | او دَ زمکے

رښتينی يئ۔ بيشکه الله تعالیٰ دَ آسمانونو او دَ زمکے په ټولو پټو خبرو باندِ پوهيږی

وَاللّٰهُ بَصِیْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ⑱ ع ٣ ١٤

او الله | کوری | هغه څه | چه تاسو ئے کوئ۔

او الله تعالیٰ ستاسو عملونه ويني کوری

سُوْرَةُ قٓ مَكِّیَّةٌ وَّهِیَ خَمْسٌ وَّ اَرْبَعُوْنَ اٰیَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة قٓ په مکه کښے نازل شوا وپه دے کښے ٤٥ ايتونه او درے رکوع دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نوم دَ الله چه لوئے مهربان ډير زيات رحم کوونکے دے

دَ الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډير زيات رحم خاوند دے

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ ① بَلْ عَجِبُوْۤا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ المنزل ٧

قٓ | قسم دے په قرآن | چه خاوند دَ لوئے شان دے | بلکه | دوی تعجب کوی | چه راغے دوی ته | ويرونکے

قاف ـ په قرآن مجيد باندِ قسم دے (چه موږ ته پيغمبر کړے يئ) خو دا خلق په دے خبره حيران دی چه دوی ته

مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَیْءٌ عَجِیْبٌ ② ءَاِذَا مِتْنَا

هم له دوی نه | نو دوی ووئيل | کافرانو | دا | يو څيز دے | عجيبه | آيا هر کله چه موږ مړهٔ شو

دَ خپل قوم نه يو ويرونکے راغے نو کافران وائی چه دا خو ډيره عجيبه خبره ده۔ آيا موږ چه يو ځل مړهٔ شو

وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِیْدٌ ③ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ

او شو موږ | خاوړے | دا | دوباره بيرته ګرځيدل (دَ عقل نه) لرے دی | بيشکه پوهيږو موږ | په هغه څه | چه کموی ئے

او (خاوړے وسره) خاوړے شو (نو لا بيا به راژوندی کيږو؟) دا واپسی خو (دَ عقل نه) ډيره لرے ده۔ موږ ته خو دَ دوی هغه (ټول اجزا)

الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِیْظٌ ④ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ

زمکه | له دوی نه | او موږ سره | يو کتاب دے | ساتندويه | بلکه | دوی دروغ وګڼلو | حق

معلوم دی چه دَ زمکے خاوره ئے ترے نه راګوی او موږ سره خو پوره رجسټر سنبال پروت دے بلکه دوی حقه خبره دروغ وګڼله

لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۵ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا

هرکله چه | هغه راغے دوئ ته | پس دوی دی | په يو کار کښے | دَ پريشانئ | آيا دوئ نهٔ دی کتلی

کله وخت چه دوئ ته راغلو ، نو دوئ په تردد کښے پريوتل ۔ نو آيا دوئ دَ

اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۶

آسمان طرف ته | دَ پاسه دَ دوئ | چه څنګه | موږ جوړ کړے دے هغه | او ښائسته کړے مونږ هغه | او نشته په هغے کښے | څهٔ چاؤد

سر دَ پاسه آسمان ته نهٔ ګوری چه موږ څنګه جوړ کړے دے او ښائسته کړے دے او په هغے کښے هيڅ چاؤد نشته

وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ

او زمکه | غوړولے ده موږ | او غورزولی دی موږ | په دے کښے | غرونه | او راټوکولی دی موږ | په دے کښے | دَ هر قسم

او زمکه خو موږ خوره کړے ده او په هغے کښے مو غرونه کلک ښخ کړی دی او هر قسم ښائسته جوړے جوړے ښيزونه

زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۷ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۸ وَنَزَّلْنَا

ښائسته جوړے ښيزونه | ذريعه دَ سترګو غړيدو | او نصيحت | دَ پاره دَ هر بنده به رجوع کوونکی | او نازل کړی دی موږ

مو په کښے راټوکولی دی چه زموږ طرف ته دَ رجوع کوونکی هر بنده دَ پاره دَ سترګو غړيدلو او نصيحت ذريعه ده. او دَ بره نه

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ۹

له آسمان نه | اوبهٔ | دَ برکت | پس موږ راټوکول | په دے سره | باغونه | او دانه | دَ ريبلے شوی (فصل)

مو برکتی اوبهٔ راوورولے ، بيا مو په دے سره باغونه او دَ فصل دانے راپيدا کړی دی.

وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۱۰ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ

او ټجورے | لوړے لوړے | چه دَ هغے | ګوچئ دی | قَط په قَط | روزی | دَ پاره دَ بندګانو

او دَ ټجورو دنګے اونے چه دَ هغے ګوچئ يو په بل کښے ټنګے پرتے وی دا بندګانو ته دَ روزئ ورکولو دَ پاره دی

وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۭ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ۱۱ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ

او ژوندئ کړه موږ په دے سره | يو ښار | مړ | هم دغه شان دی | دوباره وتل (دَ قبرونو) | دروغ وګڼلو | له دوئ نه وړاندے

او په دے (اوبو) سره مو مړه زمکه ژوندئ کړه ، دغه شان به (دَ قبرونو نه) وتل وی ۔ دوئ (دَ مکے دَ کفارو) نه وړاندے

قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ۱۲ وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ

قوم | دَ نوح | او خلقو دَ رَس | او (قوم دَ) ثمود | او | (قوم دَ) عاد | او فرعون

قوم دَ نوح او دَ رَس خلقو او ثموديانو (خپل خپل پيغمبران دروغژن وګڼل او عاديانو او فرعون

وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ۱۳ وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۭ كُلٌّ كَذَّبَ

او ورونړو دَ لوط | او | اوسيدونکو دَ بن | او قوم دَ تبع | ټولو | دروغژن وګڼل

او دَ لوط ورونړو ۔ او دَ بن اوسيدونکو او دَ تبع قوم دغے ټولو خپل خپل

الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ۱۴ اَفَعَيِيْنَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ۭ بَلْ

پيغمبران | نو ثابته شوه | وعده دَ عذاب زما | نو آيا موږ ستړی شو | په پيدا کولو | دَ وړومبی ځل | (نه) بلکه

پيغمبران دروغژن وګڼل نو زما دَ عذاب خبره پرے پوره شوه نو آيا موږ (دَ دوئ) په وړومبی ځل پيدا کولو باندے ستړی شوی يو؟ بلکه

ع ١٥ ١٥

هُمْ فِىْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ

دوی | په شک کښې دی | له پیدا وښت نوی نه | او بیشکه | موږ پیدا کړلو | انسان

دوی د نوی سره د پیدا کیدو په حقله په شک کښې پراته دی ؛ او یقینًا موږ انسان پیدا کړو

وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۖ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ

او موږ پوهیږو | په هغه څه | چه وسوسه کوی د هغې | نفس د ده | او موږ | زیات نزدې یو | ده ته

او د ده په زړه کښې چه کوم وسوسې راځی (هغه هم) موږ پیژنو ، او موږ خو د ده د سا د

مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿١٦﴾ اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ الْيَمِيْنِ وَ

له رګ د سا د ده نه | هر کله چه | لیکی | دوه لیکونکی | له ښۍ ډډې نه | او

رګ نه هم زیات نزدې یو . څه وخت چه دوه لیکونکی فرښتې د ده ښۍ او ګس طرف

عَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿١٧﴾ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ

او له ګس ډډې نه | ناست | نه وځی (د خلې نه) | څه خبره | مګر | د هغه سره | یو ساتونکی

ته ناستې وی ـــــ . او د انسان د خلې نه چه څنګه څه لفظ وځی نو د ده سره یوه ساتونکې (فرښته) د دې

عَتِيْدٌ ﴿١٨﴾ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ۭ ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ

تیار ناست وی | او راغله | بې هوشی | د مرګ | په رښتیا | دا دی | هغه څه | چه ته به له هغې نه

د لیکلو د پاره) تیاره ناسته وی . او د مرګ بې هوشی په رښتیا راورسیده . دا هغه څیز دے چه د دے نه به ته

تَحِيْدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِى الصُّوْرِ ۭ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿٢٠﴾ وَجَآءَتْ

ډډه کوله | او پوکه به وو هلے شی | په شپیلۍ کښې | هم دا ده | ورځ | (د عذاب) د وعدې | او را به شی

تښتیدلے . او شپیلۍ به پوک وهلے شی . هم دا ده د عذاب ورځ . او هر څوک به په داسې شان

كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿٢١﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِىْ غَفْلَةٍ

هر یو نفس | د ده سره به وی | یو روانونکے | او یو ګواهی ورکونکے | بیشکه ته وے | په غفلت کښې

پیش کیږی چه یوه (فرښته) به ئے راولی او بله به ورسره ګواه وی . ته خو د دے ورځے نه غافل پروت

مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾

له دے نه | نو موږ لرے کړه | له تا نه | ستا پرده | نو ستا نظر | نن ورځ | ډیر تیز دے

وے ، نو موږ درله (د سترګو نه) پرده پرانستله نو نن (خو) دِ نظر ډیر تیز دے .

وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾ اَلْقِيَا فِىْ جَهَنَّمَ

او وبه وائی | د ده ملګرے (فرښته) | دا دی هغه څه | چه ما سره | تیار دی | (حکم به وشی) تاسو دواړه وغورزوئ | په دوزخ کښې

او د هغه ملګرے فرښته به وائی چه دا هغه (عمل نامه) ده چه ما سره تیاره پرته ده . (حکم به وشی چه) اے دواړو فرښتو!

كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيْبٍ ﴿٢٥﴾ الَّذِىْ

هر | ناشکره | سرکش | چه منع کونکے وی | له نیکۍ نه | له حده تیریدونکے | هر شک کونکے | هغه چا چه

هر ناشکره سرکش په دوزخ کښې وغورزوئ . چه (خلق به ئے د) نیکۍ نه منع کول حد نه تیریدونکے او شک کونکے وو ، چا چه

جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِی الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿٢٦﴾

مقرر کړے ئې | دَ الله سره | معبود | بل پس وغورځوئ دے | په سخت عذاب کښے

الله تعالىٰ سره نور معبودان مقرر کړل . تاسو دواړه دا کس په سخت عذاب کښے واچوئ ـ

قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَاۤ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ فِیْ ضَلٰلٍۭ

وائی به | دَ دهٔ ملګرے | اے ربه زمونږه | ما ئې نهٔ وو سرکش جوړ کړے | ليکن | وو دے | په ګمراهئ کښے

دَ هغهٔ (شيطان) ملګرے به ووائی چه اے زمونږه ربه ! ما ئې سرکش نهٔ دے جوړ کړے بلکه دے په خپله په غټه ګمراهئ

بَعِيْدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَیَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ بِالْوَعِيْدِ ﴿٢٨﴾

دَ لرے | وَبه فرمائی | جګړے مهٔ کوئ | ما سره | او ما (خو) وړاندې ليږلې وه | ستاسو طرفته | خپله (دَ عذاب) وعده

کښے پروت وو . الله به وفرمائی ، زما په وړاندې جګړے مهٔ کوئ او ما تاسو (په دنيا کښے) دَ وړاندې نه ډ دے عذاب ويره ورکړے وه

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَیَّ وَمَاۤ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ نَقُوْلُ

ع ٢ ١٤ ١٦

نهٔ شي بدلولے | خبره | ما سره | او نهٔ يم زهٔ | ظلم کوونکے | په بندګانو باندې | په کومه ورځ چه به | مونږه ووايو

نو زما په دربار کښے به (نن) هغه خبره نهٔ بدليږي او زهٔ په خپلو بندګانو دَ ذرے هومره زياتے نهٔ کوم ، په کومه ورځ چه به

لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿٣٠﴾ وَاُزْلِفَتِ

دوزخ ته | آيا | ته ډک شوے ؟ | او هغه به ووائی | آيا | زياتی څهٔ شته ؟ | او نزدے به کړے شي

مونږ دوزخ ته ووايو چه آيا ته ډک شوے ؟ او هغه به ووائی چه څهٔ نور هم شته ؟ او پرهيزګارانو ته

الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿٣١﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ

جنت | پرهيزګارانو ته | هغه به لرے نهٔ وي | هم دا ئې | هغه چه | تاسو سره ئې وعده کولے شي | دَ پاره دَ هر رجوع کوونکي

پاره به جنت رانزدے کړے شي هغه به څهٔ لرے نهٔ وي ، هم دا ئې هغه (جنت) دے کوم چه تاسو سره ئې وعده کولے شوه هر رجوع

حَفِيْظٍ ﴿٣٢﴾ مَنْ خَشِیَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ

حفاظت کوونکي | څوک چه | ويريږي | دَ (الله) رحمٰن نه | بے ليدلو | او راغلے دی | په زړهٔ

کوونکي او (دَ حقوقو) حفاظت کوونکي دَ پاره ، چه بے ليدلو دَ الله تعالىٰ نه ويريږي ، او دَ رجوع کوونکي زړهٔ سره

مُّنِيْبِ ﴿٣٣﴾ ادْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿٣٤﴾ لَهُمْ مَّا

رجوع کوونکي سره | تاسو داخل شئ په دے کښے | په سلامتيا سره | هم دا ده | ورځ | دَ هميشه اوسيدلو | دوی دَ پاره دی هغه څه

راشي . (حکم به وشي) په دے (جنت) کښے په سلامتئ سره داخل شئ دا دَ هميشه هميشه اوسيدو ورځ ده . دوئ دَ پاره به

يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ

چه دوئ ئې غواړي | په دے کښے | او مونږ سره | نور هم زيات دی | او څومره | مونږ هلاک کړل | له دوئ نه وړاندې

هلته هغه هرڅهٔ وي چه دوئ ئې غواړي او مونږ سره نور هم ډير څهٔ دي . او مونږ دَ دوئ نه وړاندې ډير داسے قومونه

مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِی الْبِلَادِ

قومونه | هغوئ | زيات سخت وو | له دوئ نه | په حمله کښے | پس دوئ لټون کولو | په ښارونو کښے

تباه کړی دی چه په (طاقت او) حمله کښے دَ دوئ نه زيات وو او هغوئ ښارونه (دَ ترقئ په غرض) چاڼ کړل

هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿٣٦﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ

آيا | دَ تېښتې ځه ځائې شته؟ | بیشکه | په دے کښې | نصیحت دے | هغه چا دپاره | چه وی دَ هغهٔ

نو آیا هغوئ چرته ځان له دَ سرپناه کولو ځائې بیا مونده؟ دَ هغوئ په تباهئ کښې دَ هغه چا دپاره لوئې سبق پروت دے

قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

زړهٔ (بیدار) | یا هغه یږدی | غوږ | او هغه متوجه وی | او بیشکه | مونږ پیدا کړل | آسمانونه

چه دَ (روغ) زړهٔ خاوند وے یا په توجه سره خبرے ته غوږ نیسی. او مونږ آسمانونه او زمکه او دَ دے دواړو

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿٣٨﴾

او زمکه | او هغه څهٔ | چه دَ دے دواړو په مینځ کښې دی | په شپږو | ورځو کښې | او نهٔ دهٔ رسیدلے مونږ ته | څهٔ ستومانی

په مینځ کښې څیزونه په شپږو ورځو کښې پیدا کړی دی. او مونږ پورے هیڅ هم نهٔ یو ستړی شوی

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ

پس صبر کوه | په هغه څهٔ چه | دوی ئې وائی | او پاکی بیان کړه | په تعریف سره | دَ خپل رب | وړاندې | دَ راختلو

نو دَ دوئ په خبرو صبر کوه ، او دَ خپل رب حمد او تسبیح لوله دَ نمر ختلو نه وړاندې

الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿٤٠﴾

دَ نمر نه | او وړاندې | له پریوتلو نه | او دَ شپې په ځنې وختونو کښې | پاکی بیانوه دَ دهٔ | او له سجدے نه پس هم

او دَ نمر ډوبیدلو نه وړاندې ، او په شپه کښې هم دَ هغهٔ تسبیح لوله او دَ مونځونو نه پس هم.

وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٤١﴾ يَّوْمَ يَسْمَعُوْنَ

او واوره | په کومه ورځ چه | آواز ورکړی | آواز کوونکے | له ځائے نزدے نه | په کومه ورځ چه | دوی به واوری

او واوره! په کومه ورځ چه منادی به دَ نزدے نه چغه کړی ، په هغه ورځ چه دوئ ټول به

الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ۭ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿٤٢﴾ اِنَّا نَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ

زوره ره چغه | په حق سره | هم دا | ورځ به وی | دَ (دوباره) وتلو | بیشکه مونږ | ژوندی کوو | او مړه کوو

دغه چغه په یقین سره واوری. هم دغه (دَ قبرونو نه) دَ راوتلو ورځ ده. بیشکه هم مونږ ټول ژوندی کوو او مړه کوو

وَاِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ۭ

او زمونږ طرف ته | واپس راتلل دی | په کومه ورځ به | چه وچوی | زمکه | دَ دوی دَ (پاسه) | په تندئ

او هرڅهٔ به مونږ ته پسته راګرځی. په کومه ورځ چه زمکه په دوئ باندے وچوی او دوئ به راوغلی

ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيْرٌ ﴿٤٤﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ وَمَآ اَنْتَ

دا | جمع کول دی | چه په مونږ باندې | آسان دی | مونږ | ښهٔ پوهیږو | په هغه څهٔ | چه دوئ ئې وائی | او نهٔ یئې ته

دغه راغونډول مونږ ته ډیر آسان دی . مونږ ته دَ دوئ خبرے ډیرے ښې معلومے دی او ته په دوئ باندې

عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ ۣ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿٤٥﴾ ع ٣

په دوی باندې | زبردستی کوونکے | پس نصیحت وکړه | په قرآن سره | هغه چا ته چه | ویریږی | زما (دَ عذاب) دَ وعدے نه

څهٔ جابر (حاکم) خو مقرر نهٔ یئې . نو دَ دے قرآن په ذریعه هغه چا ته سبق ورکوه چه زما دَ عذاب نه ویره کوی.

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ (۶۷) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سِتُّوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورۂ ذاریات په مکه کښے نازل شو | شروع کوم په نوم د الله چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ۶۰ آیتونه او ۳ رکوع دی

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ۙ ① فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ۙ ② فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ۙ ③

قسم دے په الوزونکو بادونو | چه الوزوی (بخارات) | بیا اوچتوی | بوج (د وریځو) | بیا روانے شی | رو رو

په الوزونکو سیلو بادونو قسم دے ، بیا په بار اوچتونکو وریځو بادونو ، بیا په آرام بهیدونکو کشتو

فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۙ ④ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۙ ⑤ وَّاِنَّ الدِّيْنَ

بیا تقسیموی | یو کار (باران) | بیشکه | تاسو سره چه کومه وعده کولے شی | هغه ربتیا ده | او بیشکه | جزا او سزا

بیا د خیزونو په تقسیموونکو فرښتو چه تاسو سره کوم لوظ کیږی هغه بالکل ربتیا دے - او بیشکه د سزا او جزا

لَوَاقِعٌ ۗ ⑥ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ۙ ⑦ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ

ضرور واقع کیدونکے ده | او قسم په آسمان | چه لارو والا دے | بیشکه تاسو | په یوه خبره کښے

ورځ ضرور راتلونکے ده - او په آسمان باندی قسم دے چه لارے پکښے جوړے دی ، چه تاسو د اختلاف خبرو په چکر کښے

مُّخْتَلِفٍ ۙ ⑧ يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ۗ ⑨ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ۙ ⑩ الَّذِيْنَ

اختلاف کوونکی یئ | واپس گرځولے شی | له دے نه | هغه څوک چه | گرځولے شوی وی | هلاک شول (بے دلیله) اندازه لگوونکی | چه

پریوتی یئ ، د دے حقیقت نه هم هغه مخ اړوی چه (د ازل نه) محروم ساتلے شوے وی ، هلاک دی شی بے دلیله خبرے کوونکی ، چه د

هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ۙ ⑪ يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ۗ ⑫ يَوْمَ هُمْ

هغوی په غفلت کښے دی | هیرونکی دی | دوی تپوس کوی | چه کله به وی | ورځ | د جزا | په کومه ورځ چه به دوی

جهالت) په غفلت کښے پراته دی هر څه ترے هیر دی - دا تپوس کوی چه د بدلے ورځ به کله وی ؟ دا به هغه ورځ وی

عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ⑬ ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ۭ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ

په اور باندی | سوزولے شی | وڅکئ تاسو (مزه) د خپلے سزا | هم دا دے هغه | د کوم چه تاسو

چه دوی به په اور باندی سوزولے شی (چه اوس) د خپلے سزا خوند واخلئ - هم دا دے هغه (عذاب) د کوم د پاره

تَسْتَعْجِلُوْنَ ⑭ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۙ ⑮ اٰخِذِيْنَ

تندی کوله | بیشکه پرهیزگاران به | په باغونو کښے | او چینو (کښے وی) | اخستونکی (به وی)

چه تاسو تندی کوله . بیشکه پرهیزگار خلق به په باغونو او چینو کښے وی ، څه چه د دوی رب به دوی

مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ۭ ⑯ كَانُوْا

د هغه څه | چه ورکړل دوی ته | رب د دوی | بیشکه دوی | وو | له دے نه وړاندی | نیکی کوونکی | وو دوی

له ورکوی هغه به اخلی . بیشکه دا خلق له دے نه وړاندی نیکی کوونکی وو ، دوی به

قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ⑰ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ⑱

چه لږ به | د شپے | دوی خوب کولو | او په وخت د سحر کښے به | دوی | بخښنه غوښتله

د شپے ډیر کم اُوده کیدل - او د سحر په وخت کښے به ئے (د خپل رب نه) بخښنه غوښتله

وَفِيٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۱۹﴾ وَفِي الْاَرْضِ

اود دوئ په مالونو کښې به | حق وو | د پاره د سوال کوونکو | او د تنګ دستو | او په زمکه کښې

او د هغوئ په مالونو کښې د سوالګرو او د نه غوښتونکو (غریبانانو) برخه مقرر ده۔ او په دے زمکه کښې

اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَفِيٓ اَنْفُسِكُمْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۲۱﴾

نخښې دی | د پاره د یقین کوونکو | او په خپله ستاسو په ذات کښې | نو آیا نه | ګورئ تاسو په غور سره۔

د یقین کوونکو د پاره ډیرے نخښے پرتے دی او ستاسو په خپلو ځانونو کښې هم نو آیا تاسو ته ښکاری نه؟

وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ فَوَرَبِّ السَّمَآءِ

او په آسمان کښې دے | رزق ستاسو | او هغه څه | چه تاسو سره ئې وعدې کولے شی | پس قسم دے په رب | د آسمان

او بیا په آسمان کښې ستاسو روزی هم ده او هغه هم چه تاسو سره ئې وعدے کیږی۔ نو د آسمان او د زمکے په رب م

وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿۲۳﴾ هَلْ اَتٰىكَ

او د زمکے | چه بیشکه دا | رښتیا دے | په شان | د هغه چه تاسو ئې | خبرے کوئ | آیا | راغلے ده تا ته

قسم دے چه څنګه ستاسو وینا برحق ده د هغه شان (د جزا د ورځے راتلل) هم برحق دی (لے رسوله!) آیا تا ته د ابراهیم

حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۴﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ فَقَالُوْا

خبره (خبر) | د میلمنو د ابراهیم | چه عزتمن وو | هر کله چه | داخل شول | په ده | پس وئې ویل

د عزتمنو میلمنو خبر (نه دے) دا رسیدلے؟ هر کله چه هغه (فرښتے) د ده ته راغلے نو سلام

سَلٰمًا ۚ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ

سلام | نو ابراهیم ووئیل | سلام | دا یوه ډله ده نا پیژندګلو | بیا هغه (پټ شان) لاړو | خپل کور ته

ئے واچو نو ابراهیم هم ورته سلام وکړو (او په زړه کښې ئې خیال وکړو) دا نا آشنا خلق دی۔ بیا په تادئ سره خپل کور ته لاړو

فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ ﴿۲۶﴾ فَقَرَّبَهٗٓ اِلَيْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاَوْجَسَ

بیائے راوړو | یو سخے | څورب | پس هغه ئې ورنږدے کړو دوئ ته | ده ووئیل | آیا تاسو نه خورئ؟ | نو ده محسوس کړله

نو یو څورب سخے ئې راوړو۔ نو نږدے ئې ورته کیښودو او ورته ئې ووئیل چه تاسو ولے خوراک نه کوئ؟ بیا ئې

مِنْهُمْ خِيْفَةً ۚ قَالُوْا لَا تَخَفْ ۚ وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ﴿۲۸﴾

له دوئ نه | ویره | دوئ ووئیل | مه ویریږه | او دوئ زیرے ورکړو ده ته | د یو هلک | پوهه

ترے نه په زړه کښې ترهه پیدا شوه (هغوئ ورته) ووئیل چه ویره مه کوه او هغوئ ابراهیم ته د یو هوښیار ځوئ زیرے ورکړو

فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِيْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوْزٌ

بیا را مخامخ شوه | ښځه د ده | په یو آواز (د حرانتیا) سره | نو ټس ئې ورکړو | مخ خپل له | او وئې وئیل | بوډئ

نو د هغه ښځه په وینا وینا را مخامخ شوه، نو ټس ئې له ئې ټس ورکړو چه (بښه!) د بوډئ (او د) شنړے

عَقِيْمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ۚ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۰﴾

شنړه؟ | دوی ووئیل | هم دغه شان | فرمائیلی دی | رب ستا | بیشکه دے ګے | خاوند د حکمت | پوهه

(به اولاد کیږی)؟ هغوئ ورته ووئیل چه هم دغسے ستا رب فرمائیلی دی، هغه د ډیر حکمت او د لوئے علم خاوند دے۔

ع ۱ ۲۳ ۱۸ وقف لازم

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانہ ترجمہ

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٣١﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ

وَ دَ فرمائیل | پس ستاسو څه مقصد دے | اے (دَ الله) رالیږلے شوو فرښتو؟ | دوی ووئیل | چه بیشکه مونږ رالیږلے شوی یُو

(ابراهیمؑ) وفرمائیل چه اے فرښتو! ستاسو مقصد څه دے؟ هغوی ووئیل مونږ یو مجرم قوم طرف ته

اِلٰی قَوْمٍ مُّجْرِمِیْنَ ﴿٣٢﴾ لِنُرْسِلَ عَلَیْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِیْنٍ ﴿٣٣﴾

دَ یو مجرم قوم طرف ته | دَ پاره دَ دے چه مونږ راوُلیږو | په دوی باندې | کانړی | دَ خټے نه

رالیږلے شوی یُو. دَ پاره دَ دے چه مونږ په هغوی باندې دا سے دَ ټیکرو کانړی راووروو چه

مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِیْنَ ﴿٣٤﴾ فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ

نخښے پرے لګیدلے | په نزد دَ رب ستا | دَ حد نه تیریدونکو دَ پاره | پس را وُویستل مونږ | هغه څوک چه | وو

په هغے باندې ستا دَ رب سره دَ زیاتی خورو دَ پاره نخښے لګیدلے دی. نو هلته چه کوم مؤمنان اُوسیدل

فِیْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِیْهَا غَیْرَ بَیْتٍ

هلته | له مؤمنانو نه | پس وُنه موندل مونږ | هلته | سیوا | دَ یو کور

هغه مو ترے نه بهر وُویستل. خو مونږ پکښے دَ یو کور نه سیوا دَ مؤمنانو بل کور نۀ

مِّنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِیْهَآ اٰیَةً لِّلَّذِیْنَ یَخَافُوْنَ

له مسلمانانو نه | او مونږ پریښوده | هلته | یوه نخښه | هغه کسانو دَ پاره | چه ویریږی

بیا نۀ موندلو. او په دے (واقعه) کښے مو هغه خلقو له یوه نخښه باقی پریښوده چه دَ

الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ ﴿٣٧﴾ وَفِیْ مُوْسٰٓی اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰی فِرْعَوْنَ

له عذاب | دردناک نه | او په (قصه دَ) موسیٰ کښے | هر کله چه ولیږلو مونږ دے | طرف دَ فرعون ته

دردناک عذاب نه ویریږی. او (دَ غسے) دَ موسیٰؑ په قیصه کښے هم (نخښه پرته ده) څه وخت چه مونږ هغه (دَ) فرعون

بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلّٰی بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٣٩﴾

په دلیل | واضح سره | پس ده مخ واړولو | دَ ځپل لښکر سره | او ئے وُوئیل | دا جادوګر | یا دیوانه دے.

(دربار) ته دَ ځرګند دلیل سره ولیږلو نو هغهٔ دَ ځپل زور په خیال کښے انکار وُکړو او دا ئے وُوئیل چه دا جادوګر یا لیونے دے

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِی الْیَمِّ وَهُوَ مُلِیْمٌ ﴿٤٠﴾

پس وُنیولو مونږ دے | او دَ ده لښکرے | بیا مونږ وغورزول دوی | په دریاب کښے | او هغه وو | دَ ملامتیا جوګه

نو مونږ هغه او دَ هغهٔ لښکر (ټول) راوُنیول او په سمندر کښے مو وُغورزول او هغهٔ هسے هم دَ ملامتیا کار کړے وو

وَفِیْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَیْهِمُ الرِّیْحَ الْعَقِیْمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِنْ شَیْءٍ

او په (قوم دَ) عاد کښے | هر کله چه ولیږله مونږ | په دوی باندې | سیلئ | بے برکته | چه نه یئے پریښودلو | هیڅ څیز

او (دَ) عاد (په واقعه) کښے هم (عبرت) دے څه وخت چه مونږ پرے بے خیره سیلئ راولیږله. (دا داسے سیلئ وه چه) په کوم

اَتَتْ عَلَیْهِ اِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِیْمِ ﴿٤٢﴾ وَفِیْ ثَمُوْدَ اِذْ قِیْلَ لَهُمْ

چه راغله په هغے | مګر | ګرځوو به ئے هغه | ریزه ریزه | او په (قوم دَ) ثمود کښے | هر کله چه ووئیلے شو | دوی ته

څیز به تیریدله نو هغه به ئے ریزه ریزه کولو. او (دَ غه شان) دَ ثمود (په واقعه) کښے هم (عبرت دے) هر کله چه دوی

تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۴۳﴾ فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ

فائدہ واخلئ تاسو | یو وخت مقرر پورے | نو دوئ سرکشي وکړه | د حکم د رب خپل نه | پس ونیول دوی | تندر

ته دوئ ته وویلے شو چه یو څو ورځے نور عیش و نه وکړئ خو هغوئ د خپل رب د حکم نه سرکشي وکړه نو هغوئ عذاب راونیول.

وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿۴۵﴾

او دوی | کتل | پس په دوی کښے طاقت پاتے نه شو | د اودریدلو | او نه وُو دوئ | بدل اخستونکی

او هغوئ ورته (په غوږغوږ) کتل. نو (بیا) نه خو راوچت شو او نه ئے زمونږ نه څه بدله واخستے شوه.

وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۖ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَالسَّمَآءَ

او (هلاک کړو) قوم د نوح | له دے نه وړاندے | بیشکه دوی | وُو | خلق | نافرمانه | او آسمان

او د هغوئ نه وړاندے د نوح د قوم سره هم دغه سلوک شوے دے. بیشکه چه دغه هم یو ډیر نافرمانه قوم وو. او مونږ آسمان

بَنَيْنٰهَا بِاَيْىدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ

جوړ کړو مونږ دا | په قوت | او بیشکه مونږ | فراخي ورکوونکی یو | او زمکه | پس مونږ وغوړوله دا | پس مونږ څه ښه

د خپل قدرت په لاسونو جوړ کړے دے او مونږ د لوئے قدرت خاوندان یو. او زمکه مونږ غوړولے ده، نو څنګه ښه په

الْمٰهِدُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۹﴾

غوړوونکی یو | او له هر یو څیز نه | پیدا کړی دی مونږ | جوړے | د پاره د دے چه تاسو | غور وکړئ

غوړولو پوهیږو. او هر څیز مو جوړے جوړے جوړ کړے دے د پاره د دے چه تاسو نصیحت حاصل کړئ.

فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۗ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾

نو وتښتئ تاسو | الله طرف ته | بیشکه زه | تاسو د پاره | د ده له طرف نه | ویروونکے یم | ښکاره

پس تاسو هم د الله طرف ته ورمنډه کړئ، زه تاسو د پاره د الله تعالیٰ د طرف نه څرګند ویروونکے (راغلے) یم

وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۖ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ

او مه مقرروئ | د الله سره | معبود | بل | بیشکه زه | تاسو د پاره | د ده له طرف نه | ویروونکے یم

او (ګورئ) الله تعالیٰ سره بل څوک معبود مه نیسئ. بیشکه زه تاسو د پاره د ده د طرف نه ښکاره ویروونکے

مُّبِيْنٌ ﴿۵۱﴾ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا

ښکاره | دغه شان | نه دے راغلے | هغه خلقو ته | چه له دوی نه وړاندے وو | څوک پیغمبر | مګر دوی دویل

(راغلے) یم. دغه شان د دوئ نه مخکښو خلقو له چه کله هم یو رسول ورغلے دے نو هغوئ ورته

سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ

چه دا جادوګر دے | یا دیوانه | آیا وصیت کړے دے دوی | د دے؟ | (نه) بلکه | دوی

جادوګر یا لیونے ویلے دے. آیا دوئ یو بل ته د دے خبرے وصیت پریښودے دے؟ (نه) بلکه دغه خلق پخوا

قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ وَّذَكِّرْ

خلق دی سرکشه | پس ته مخ واړوه | له دوی نه | پس نه یے ته | ملامت شوے | او ته نصیحت کوه

(یوشان) سرکشان وو. نو ته د دوئ نه مخ واړوه څکه چه په تا باندے هیڅ الزام نشته. او ته دوئ ته نصیحت کوه

فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ

پس بیشکه | نصیحت | فائده ورکوی | مؤمنانو ته | او نه دی پیدا کړی ما | پیریان | او انسانان

حکه چه نصیحت مؤمنانو ته (خامخا) فائده رسوی - او ما خو پیریان او بنیادم دے کار له پیدا کړی دی

اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ اُرِيْدُ

مګر | د پاره د دے چه عبادت وکړی زما | نه غواړم زه | له دوی نه | هیڅ روزی | او زه نه غواړم

چه زما عبادت د کوی - زه د دوی نه نه خو روزی غواړم او نه (تردے نه) دا غواړم چه

اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿۵۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ﴿۵۸﴾ فَاِنَّ

چه دوی طعام راکړی ما ته | بیشکه | الله | هم دے دے رزق ورکوونکے | د قوت خاوند | ډیر غالب | پس بیشکه

ماله د خوراک نه راکوی - بیشکه چه الله تعالیٰ د ټولو خلقو روزی رسان دے د طاقت خاوند دے مضبوط دے پس د دے

لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۵۹﴾

هغه کسانو د پاره | چه ظالمان دی | حصه ده | په شان | د حصے | د ملګرو د دوی | نو پکار ده چه دوی تلوار ونه کړی

ظالمانو هم (د عذاب) حصه مقرر ده لکه چه د دوی د ملګرو (له دے نه وړاندې) حصه مقرر وه نو اوس د دوی په ما تلوار نه

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۶۰﴾

پس هلاکت دے | هغه کسانو د پاره | چه کافران دی | د دوی له هغه ورځے نه | د کومے چه | د دوی سره وعده کولے شی

کوی - پس کافرانو خلقو له د هغه ورځے په راتلو کښے ډیره تباهی ده د کومے چه ورسره وعده شوے ده

سُوْرَةُ الطُّوْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سوره طور په مکه کښے نازل شوے | په دے کښے ۴۹ آیتونه او دوه رکوع دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نوم د الله چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کونکے دے

د الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالطُّوْرِ ﴿۱﴾ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ﴿۲﴾ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ﴿۳﴾ وَّالْبَيْتِ

قسم دے په طور | او په یو کتاب | (چه) لیکلے شوے دے | په کاغذ | پرانستلے شوی کښے | او قسم دے په کور

په کوه طور باندې قسم دے. او قسم دے په لیکلے شوی کتاب (چه) په غوړیدلی کاغذ کښے (دے) او قسم دے په

الْمَعْمُوْرِ ﴿۴﴾ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ﴿۵﴾ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ﴿۶﴾ اِنَّ عَذَابَ

آباد باندې | او قسم دے په چت | اوچت کړے شوی | او قسم دے په دریاب | ډک کړے شوی | چه بیشکه | عذاب

آباد کور - او (قسم دے) په اوچت چت (یعنی آسمان) او (قسم دے) په ډک دریاب - یقیناً ستا د رب

رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ﴿۸﴾ يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ

ستا د رب | خامخا واقع کیدونکے دے | نشته دے د دے | (څوک) دفع کوونکے | په کومه ورځ چه | حرکت به وکړی | آسمان

عذاب خامخا راتلونکے دے ۔ هیڅوک یے دفع کولے نه شی - په هغه ورځ چه آسمان به ولړزیږی

مَوْرًا ﴿۹﴾ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ﴿۱۰﴾ فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

په حرکت کولو سره | او روان به شی | غرونه | په روانیدلو سره | پس هلاکت دے | په دغه ورځ

او غرونه به د خپل ځائے نه روان شی ۔ نو په دغه ورځ به د دروغ ګڼړونکو

ركوع ۳

لِّلْمُكَذِّبِينَ ⑪ الَّذِينَ هُمْ فِي خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ⑫ يَوْمَ يُدَعُّونَ

دروغ گڼونکو دپاره | کوم خلق چه | په فضولو خبرو کښې لګیا دی | لوبې کوی. | په هغه ورځ چه | دوی به ورد یکلے شی

شامت راشی. څوک چه د (حق نه د) انکار په لوبه کښې لګیا دی فضول لوبې کوی. دا په هغه ورځ وی چه دوی به په

إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ⑬ هَٰذِهِ النَّارُ الَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ⑭

دَ دوزخ دَ اور طرف ته | په دیکلو سره | هم دا دے | اور | هغه چه | تاسو به هغه | دروغ ګڼړلو

دیکو دیکو دَ دوزخ اور ته ور دیکلے شی. چه دا هغه دوزخ دے چه تاسو به دروغ ګڼړلو.

أَفَسِحْرٌ هَٰذَا أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ⑮ اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا

پس ایا دا جادو دے؟ | یا | تاسو | نهٔ ګورئ؟ | داخل شئ تاسو دے ته | پس تاسو صبر کوئ

(اوس ووایئ) ایا دا هم جادو دے کهٔ نهٔ ستاسو نظر نهٔ لګی؟ اوس دے (دوزخ) کښې ورننوزئ، نو که تاسو په دے

أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ⑯

یا صبر نهٔ کوئ | برابره ده | په تاسو | بیشکه | تاسو ته به بدله درکولے شی | دَ هغه څهٔ چه تاسو به کول.

صبر کوئ او کهٔ بے صبری کوئ، دواړه درله برابر دی تاسو ته خو بس دَ هغه کارونو بدله درکولے شی چه تاسو پخپله کول

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ⑰ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ

بیشکه | پرهیزګاران به | په باغونو کښې | او په نعمتونو کښې وی | خوشحاله به وی | په هغه چه | ورکړل دوی ته

بیشکه چه پرهیزګاران به په باغونو کښې او نعمتونو کښې اوسیږی. او دَ خپل رب په ورکړو به

رَبُّهُمْ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ⑱ كُلُوا وَاشْرَبُوا

رب دَ دوی | او بچ کړل دوی | رب دَ دوی | له عذاب | دَ دوزخ نه | خورئ | او څښئ

خوشحالیږی او خپل رب به ئے دَ دوزخ دَ عذاب نه بچ وساتی (ورته به وویلے شی چه) بنهٔ په مزه

هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ⑲ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ سُرُرٍ

په مزے سره | په بدل دَ هغه (عملونو) | چه تاسو به | کول | تکیه لګوونکی | په تختونو

خورئ څښئ دَ هغه (نیکو) کارونو په بدل کښې چه تاسو به کول. دَ دوے به ئے وهلے وی په برابر برابر

مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ⑳ وَالَّذِينَ آمَنُوا

برابر غوړیدلی | او واده به وکړو مونږ دَ دوی | دَ غټو سترګو حورو سره | او کوم خلق چه | ایمان راوړو

غوړیدلو تختونو او دَ غټو غټو سترګو حورے به مونږ دَ دوی بیبیانے جوړے کړو او چا چه ایمان راوړے دے

وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ

او دَ دوی پیروی وکړه | دَ دوی اولاد | په ایمان کښې | مونږ به ملاؤ کړو (په جنت کښې) دوی سره | اولاد دَ دوی

او خپل اولاد ورسره په ایمان راوړو کښې ملګرتیا کړے ده نو مونږ به (په جنت کښې) دَ دوی اولاد دَ دوی سره یوځائے

وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ

او کم به نهٔ کړو مونږ | دَ دوی له عمل نه | هیڅ څیز | هر یو کس به | دَ خپل عمل سره

کړو او مونږ به دَ دوی په عملونو کښې هیڅ کمے ونهٔ کړو. هر یو کس به په خپل عمل کښې

رَهِيْنٌ ﴿٢١﴾ وَاَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٢٢﴾

ګيروي | او مونږ به رسوو دوئ ته | ميوه | او غوښه | له هغه څه نه | چه دوئ يې غواړي

ګيروي. او مونږ به جنتيانو ته ميوې، غوښه او څه چه يې زړه غواړي ورکوو.

يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَلَا تَاْثِيْمٌ ﴿٢٣﴾

اخلي به د يو بل نه | هلته | پياله (د شرابو) | چه نه به وي فضول خبره هلته | او نه د ګناه کار

(د شرابو) په جامونو به يو بل سره (د خوندِ د پاره) اتګسته اچوي خو په هغه (شرابو) کښې به نه بکواس کيږي او نه د ګناه څه

وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿٢٤﴾

او چارچاپيره به ګرځي | دوی ته | هلکان | د دوئ (د خدمت) د پاره | لکه چه دوئ | ملغلرې دي | په پرده کښې پټې

خبره او د دوئ نه چارچاپيره به هلکان د خدمت د پاره اوړي راوړي لکه د پټو ساتلې شوو ملغلرو په شان به وي.

وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا

او را مخامخ به شي | ځينې د دوی | په ځنو باندې | چه له يو بل نه به پوښتنې کوي | دوی به وائي | بيشکه مونږ ؤو

او يو بل ته به مخ کړي او خبرې اترې به کوي، او دا به (هم) وائي چه مونږ به

قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا

له دې نه وړاندې | په خپل کورونو کښې | ويريدونکي | پس احسان وکړو | الله | په مونږ باندې | او بچ يې کړلو مونږ

مخوا په خپلو کورونو کښې ډير ډير ويريدو. نو الله تعالیٰ را باندې ډير احسان وکړو او مونږ يې د دوزخ

عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ

له عذاب نه | د ګرمې هوا | بيشکه مونږ | له دې نه وړاندې | عبادت به کولو د هٔ | بيشکه دٔ دې | احسان کوونکے

د عذاب نه بچ کړو. بيشکه مونږ به له دې نه وړاندې د الله تعالیٰ نه دُعا کانې غوښتلې بيشکه دې ډير احسان کوونکے

الرَّحِيْمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ

مهربان | پس ته نصيحت کوه | پس ته نهٔ يې | په فضل | د رب خپل | کاهن

مهربان دے. نو (اے نبي!) داخلق پوهوه، ته د خپل رب په فضل سره نهٔ خو کاهن يې

وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿٢٩﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ

او نهٔ ليونے | آيا دوئ وائي | دے شاعر دے | انتظار کوو مونږ | په دهٔ | د حوادثو

او نهٔ ليونے. آيا دوئ څهٔ وائي چه دا شاعر دے (او) مونږ د دهٔ په حقله د زمانې د حادثاتو

الْمَنُوْنِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوْا فَاِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ﴿٣١﴾

د زمانې | ووايه | تاسو انتظار کوئ | بيشکه زهٔ (هم) | تاسو سره | له انتظار کوونکو نه يم.

انتظار کوو. ته ورته ووايه چه تاسو هم انتظار کوئ او زهٔ هم تاسو سره انتظار کوم.

اَمْ تَاْمُرُهُمْ اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ اَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿٣٢﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ

آيا حکم کوي دوی ته | عقلونه د دوئ | د دې (خبرې) | يا دوی خلق دي | سرکشه؟ | آيا دوی وائي

آيا د دوئ عقلونه دوئ ته هم داښائي يا دا خلق سرکشه دي؟ آيا دوئ وائي

تَقَوَّلَهُۥ ۚ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِۦٓ إِن كَانُوا

آیا دهٔ په خپله جوړ کړے دے | (نه) بلکه | دوی ایمان نهٔ راوړی | پس دوی دې راوړی | (څهٔ) کلام | په شان ددے | کهٔ چرته وی دوی

چه دهٔ (قرآن) د ځان نه جوړ کړے دے؟ حقیقت دا دے چه دوی هیڅ ایمان نهٔ لری. بیا دا خلق دې هم داسے کلام (جوړ کړی او) راوړی کهٔ دوی

صَٰدِقِينَ ﴿٣٤﴾ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾

رښتینی | آیا | پیدا کړے شوی دوی | بے د پیدا کوونکی نه | یا دوی | پخپله پیدا کوونکی دی.

(په خپله دعوی کښے) رښتینی وی، آیا دوی بغیر د پیدا کوونکی نه پخپله پیدا شوی دی او که دوی پخپله د ځانونو خالقان دی؟

أَمْ خَلَقُوا السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ

آیا | پیدا کړی دی دوی | آسمانونه | او زمکه | (نه) بلکه | دوی یقین نهٔ کوی | آیا | دوی سره دی

آیا (دا) آسمانونه او زمکه دوی پیدا کړی دی؟ خبره دا ده چه دوی بے یقینه خلق دی. آیا دوی سره ستا

خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ

خزانے | د رب ستا | یا دوی دی | داروغه ګان | آیا دوی سره | اندرپایه ده

د رب خزانے دی، کهٔ نه دوی حاکمان دی؟ یا دوی سره داسے اندرپایه ده چه په هغه

يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۖ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ أَمْ

چه آوری دوی په هغه (خبرو) | نو را دې وړی | آوریدونکے د دوی | (څهٔ) دلیل | ښکاره | آیا

(بره ختلی او) خبرے اوری؟ (که داسے وی) نو چا چه آوریدنه کړی وی هغه دې یو څرګند دلیل را ځګنے کړی (له دوی)

لَهُ الْبَنَٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم

د هٔ د پاره | لونړه دی | او تاسو د پاره | ځامن؟ | آیا | ته سوال کوے له دوی | د څهٔ اجر | پس دوی

تپوس وکړه) آیا د الله تعالیٰ خو لونړه دی او ستاسو ځامن؟ یا آیا ته له دوی نه څهٔ بدله غواړے چه دا خلق

مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾

له تاوان نه | درانه شوی دی | یا دوی سره | (علم د) غیبو دے | چه دوی (دا) | لیکی.

د هغه تاوان د پیتلانیٔ درانهٔ شوی دی؟ آیا دوی سره د غیبو څهٔ علم شته چه دوی هغه لیکی؟

أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ

آیا دوی غواړی | څهٔ بد تدبیر | پس کوم خلق چه | کافران دی | هم دوی | په بد تدبیر کښے راګیر شونکی | آیا د دوی

آیا دوی (تاته) چل جوړ کړے دے؟ نو کافران به په خپل چل کښے پخپله راګیر شی. آیا د الله تعالیٰ نه

إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَٰنَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾ وَإِن يَرَوْا

(څوک) معبود دے | سیوا د الله نه | پاک دے | الله | له هغه څهٔ نه | چه دوی ئے شریکوی | او کهٔ چرے | دوی ووینی

سیوا د دوی بل څوک معبود شته؟ الله تعالیٰ د دوی د جوړ کړو شریکانو نه پاک دے. او کهٔ چرے دوی د آسمان

كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾ فَذَرْهُمْ

یوه ټکړه | له آسمان نه | راپریوتونکے | نو دوی به ووائی | (چه) وریځ ده | قط په قط | پس پریږده دوی

یوه ټوټه راپریوتونکے ووینی، نو هغه وخت به هم ووائی چه دا نو قط په قط جوړه وریځ ده، نو دوی

حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِىْ فِيْهِ يُصْعَقُوْنَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِىْ

تر دې چه | دوی ملاقات وکړی | خپلې هغې ورځې سره | چه په هغې کښې به | دوی بې هوشه کړے شی | په کوم ورځ چه به | په کار رانشی

تر هغې پریږده چه هغه ورځ ورپاندې راشی چه هوش به ئې والوزی ۔ هغه ورځ چه د دوی تېښول

عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

د دوی | مکر د دوی | هیڅ هم | او نه به د دوی | مدد وکړے شی | او بیشکه | د هغو خلقو دپاره | چه ظلم ئې کړی

تدبیرونه به هیڅ په کار نه راځی او نه به (د چرته نه) مدد ورته رسیږی ۔ او په ظالمانو خو د دغې ورځې نه وړاندې

عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ

عذاب دے | د دے نه علاوه | او لیکن | اکثر له دوی نه | نه پوهیږی | او صبر کوه | په حکم

هم یو عذاب راتلونکے دے خو په دوی کښې اکثر کسان نه پوهیږی ۔ او ته د خپل رب حکم ته

رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٤٨﴾

د رب خپل | پس بیشکه ته | زمونږ د سترګو په وړاندې یې | او تسبیح کوه | د ستائنې سره | د رب خپل | کوم وخت چه پاسیږې ته

په انتظار او سیږه ځکه چه زمونږ په نظر کښې یې او د خپل رب حمد او تسبیح وایه څه وخت چه ته پاڅې ۔

وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿٤٩﴾

او په شپه کښې (هم) | پس د ده پاکی بیانوه | او ورو ستو د غائب کیدو د ستورو

او د شپې په څه حصه کښې د هغه تسبیح لوله او د ستورو (د ډوبیدو) نه پس هم.

سُوْرَةُ النَّجْمِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثِنْتَانِ وَسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة نجم په مکه کښې نازل شوې ده | شروع کوم په نامه د الله چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | دے کښې ٦٢ آیتونه او ٣ رکوع دی

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډېر زیات رحم خاوند دے

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ﴿١﴾ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ﴿٢﴾ وَمَا يَنْطِقُ

قسم دے په ستوری | هر کله چه | ښکته پریوځی | بے لارې نه شو | ملګرے ستاسو | او نه ئې غلطه کړے ده لار | او نه خبرے کوی

قسم دے په ستوری څه وخت چه ډوبیږی ۔ چه ستاسو ملګرے (رسول ﷺ) نه بے لارې شوے دے او نه په غلطه لار روان دے ۔ او هغه د خپل

عَنِ الْهَوٰى ﴿٣﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْىٌ يُّوْحٰى ﴿٤﴾ عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى ﴿٥﴾

له خواهش د نفس نه | نه دی دا خبره نور | مګر وحی | چه نازلولے شی | ښودلے ده ده ته | (جبرائیل) د ډېرو قوتونو خاوند

ځان نه خبرې نه جوړوی ، د هغه خو هره خبره یوه وحی ده چه ورلیږلے شوې ده ۔ هغه ته یوه طاقتوره (فرښته) ښودنه کوی

ذُوْ مِرَّةٍ فَاسْتَوٰى ﴿٦﴾ وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى ﴿٧﴾ ثُمَّ دَنَا

چه ډېر طاقتور دے | بیا هغه قائم شو (په اصلی صورت کښې) | او هغه | په کناره | اوچته (د آسمان) وو | بیا نزدے شو

چه ډېره زور اوره ده ۔ نو هغه په خپل اصلی شکل کښې ښکاره شوه په داسې حال کښې چه د افق په اوچته غاړه ولاړه وه بیا رانزدې

فَتَدَلّٰى ﴿٨﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ﴿٩﴾ فَاَوْحٰٓى اِلٰى عَبْدِهٖ

او ښکته راغے | بیا شو | په اندازه | د دوو کمانونو | یا له دے نه هم کم | نو ده وحی وکړه | د خپل بنده طرف ته

شوه ډېره رانږدې شوه نو د دوو لیندو هومره فاصله ترمینځه پاتے شوه یا د دے نه څه کمه نو الله تعالیٰ خپل بنده ته وحی وکړه

مَآ اَوْحٰى ﴿۱۰﴾ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ﴿۱۱﴾ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا

څه چه | ده وحی وکړه | نه دی دروغ ویلی | زړهٔ | څه چه ئے ولیدل | نو آیا جګړه کوئ ده سره | په هغه څهٔ کښے

څهٔ چه ئے وکړل، دَ هغهٔ زړهٔ په خپل لیدلی کتلی څیز کښے هیڅ غلطی نهٔ ده کړے نو آیا تاسو ورسره په هغه څیز کښے جګړه

يَرٰى ﴿۱۲﴾ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿۱۳﴾ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾

چه ګوری ئے وینی | او بیشکه | ده لیدلے وو دغه | یو ځل بل (هم) | سره | دَ بیرے | دَ آخری حد

کوئ چه هغهٔ په خپلو سترګو لیدلے؟ او هغهٔ دغه (فرښته) یو ځل بل هم لیدلے ده (یعنی) دَ سدرة المنتهیٰ په خوا کښے

عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ﴿۱۵﴾ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ﴿۱۶﴾ مَا زَاغَ

چه په خوا کښے ئے | جنت الماوٰی | هر کله چه خوریدو | په بیره باندې | هغه چه خوریدو (نور) | نهٔ کږ نه شو

چه دَ هغے په خوا کښے جنت الماوٰی دے څهٔ وخت چه په سدره باندې راغورځیدل څهٔ چه راغورځیدل، نهٔ خو دهغهٔ ئې

الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿۱۸﴾

سترګے | او نهٔ دَ حد نه تیرے شوے | بیشکه | ده ولیدلے | نخښے | دَ رب خپل | غټے غټے

بل خوا کوږ شوے وو او نهٔ دوکه شوے وو. هغهٔ دَ خپل رب (دَ قدرتونو) ډیرے غټے غټے نخښے ولیدلے.

اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ﴿۱۹﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ﴿۲۰﴾ اَلَكُمُ الذَّكَرُ

آیا کتلی دی تاسو | لات | او عزیٰ | او منات ته | چه دریم دے | دَ دوی نه علاوه | آیا تاسو لره هلکان دی

آیا تاسو چرے دَ لات او دَ عزیٰ په حالت باندې غور کړے دے؟ او دریم دَ منات په حالت. آیا ستاسو خو ځامن

وَلَهُ الْاُنْثٰى ﴿۲۱﴾ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ﴿۲۲﴾ اِنْ هِىَ اِلَّآ

او ده لره | جینکۍ دی؟ | داخو | په دے وخت | تقسیم دے | ظالمانه | نهٔ دی دا | مګر

ورسیدل او دَ الله لوڼه؟ داخو ډیره بے جوړه غونډې تقسیم دے. داخو تش نومونه قدر له

اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا

نامے دی | چه ایښودی دی دا نامے تاسو | او پلارانو ستاسو | نهٔ دے نازل کړے الله | د دے

دی چه ایښودی تاسو او ستاسو نیکونو ایښی دی، الله تعالیٰ په دے څیزونو هیڅ دلیل

مِنْ سُلْطٰنٍ ۭ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ وَلَقَدْ

(څهٔ) دلیل | دوئ پیروی نهٔ کوی | مګر | دَ ګمان | او دَ هغهٔ څهٔ چه غواړی ئے نفس | او بیشکه

نهٔ دے رالیږلے. داخلق (او س هم) صرف په ګمان او دَ خپل نفس په خواهشونو پسے روان دی، سره دَ دے

جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿۲۳﴾ اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾

راغلے دے دوی ته | دَ دوی دَ رب له طرف نه | هدایت | آیا | انسان دَ پاره دی | هغه څهٔ چه ئے آرزو کوی

چه دَ خپل رب دَ طرف نه ورته هدایت رارسیدلے دے، آیا دَ بنیادمو هره یوه تمنا پوره کیږی؟

فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِى السَّمٰوٰتِ

پس الله دَ پاره دے | آخرت هم | او دُنیا هم | او څومره | فرښتے دی | په آسمانونو کښے

(نهٔ بلکه هره تمنا) الله تعالیٰ سره ده دَ آخرت هم او دَ دنیا هم. او په آسمانونو کښے ډیرے فرښتے دی چه

ع ۳۵ ۵

لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِنْ بَعْدِ أَنْ يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَنْ

چه په کار به رانهٔ شي | سفارش ددوی | هیڅ هم | مګر | پس له دې نه | چه | حکم به ورکړي | الله | د پاره د هغه چا

د هغوئ سفارش هیڅ په کار رانهٔ شي، سوا د دې نه چه الله تعالیٰ چا له اجازت ورکړي او د

يَشَاءُ وَيَرْضَىٰ ﴿٢٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ

چه وغواړي | او خوښه ئې شي | بیشکه | کوم خلق چه | ایمان نهٔ راوړي | په آخرت باندې | دوئ نامې ږدي

هغهٔ رضا وي . بیشکه څوک چه آخرت نهٔ مني هغوئ په فرښتو

الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثَىٰ ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِنْ يَتَّبِعُونَ

د فرښتو | په نامو | د ښځو | او نشته دوئ ته | د دې | (څهٔ) علم | دوئ پیروي نهٔ کوي

د زنانهٔ نومونه ږدي . حال دا دې چه دغې خلقو ته د دې خبرې هیڅ علم نشته، دوئ خو بس په

إِلَّا الظَّنَّ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ﴿٢٨﴾ فَأَعْرِضْ

مګر د وهم | او بیشکه | وهم | په کار به نهٔ راځي | د حق په مقابله کښې | هیڅ هم | پس مخ واړوه

وهم او ګمان پسې روان دي او ګمان د حق په مقابله کښې هیڅ کار نهٔ ورکوي ، نو ته د هغه چا پروا مهٔ

عَنْ مَنْ تَوَلَّىٰ عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ

له هغه چا نه | چه مخ واړوي | زمونږ له ذکر نه | او ونهٔ غواړي | سوا | د ژوند د دنیا نه | دا د ه

ساته چه زمونږ د نصیحت نه بې پروا شوې دې او د دنیا د ژوند تیرولو نه بغیر بل هیڅ مقصد نهٔ لري. د دغې خلقو

مَبْلَغُهُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ

رسائی ددوئ | د علم | بیشکه ستا رب | ښهٔ پوهیږي | په هغه چا | چه بې لارې شو | د لارې د ده نه

پوهې آخري حد بس دغه هومره دې. ستا رب ډیر ښهٔ پوهیږي چه څوک د ده د لارې نه بې لارې شوې دې

وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدَىٰ ﴿٣٠﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

او هم دې | ښهٔ پوهه دې | په هغه چا | چه لارې ئې موندلې | او هم د الله دي | څهٔ چه | په آسمانونو کښې دي | او څهٔ چه

او هغه په دې هم ښهٔ پوهیږي چه څوک په سمه لاره روان دې. او په آسمانونو او په زمکه کښې هر څهٔ چه موجود دي هغه ټول

فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ

په زمکه کښې دي | چه جزا ورکړي | هغه خلقو ته | چه بدي ئې وکړه | د دوئ د عملونو په بدله کښې | او جزا ورکړي

د الله تعالیٰ دي. آخر دا چه هغه به بدانو له د بد عمل سزا ورکړي ، او نیکانو له به

الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى ﴿٣١﴾ الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ

هغه کسانو ته | چه نیکي ئې وکړه | په ښهٔ خصلت | کوم خلق چه | ځان ساتي | له لویو | ګناهونو نه

د نیک عمل نیکه بدله ورکړي دا (نیکان) هغه کسان دي چه د لویو لویو ګناهونو او د

وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ هُوَ أَعْلَمُ

او له بې حیائی نه | سوا | له وړو ګناهونو نه | بیشکه ستا رب | فراخه | بخښونکے دے | هم دے ښهٔ پوهه دے

بې شرمئ د کارونو نه ځان بچ ساتي سوا د وړو ګناهونو. ستا رب د ډیرې فراخې بخښنې خاوند دے . هغهٔ ته ستاسو

بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ

په تاسو | هر کله چه | دۀ پیدا کړئ تاسو | له زمکې نه | او هر کله چه وئ تاسو | بچي | په ګېډو کښې

حال وپیژنئ معلوم دے څۀ وخت چه تاسو ئې د زمکې نه راپیدا کړي وئ، او څۀ وخت چه تاسو د میندو په ګېډو کښې بچي

اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۗ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿۳۲﴾

د میندو خپلو | پس پاک مۀ ګڼړئ | خپل ځانونه | هم دے | ښۀ پوهه دے | په هغه چا چه | پرهیزګاري ئې کړه

وئ. پس خپل ځان ډیر پاکیزه مۀ ګڼړئ، الله تعالیٰ پرهیزګار خلق ډیر ښۀ پیژنی.

اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ تَوَلّٰى ﴿۳۳﴾ وَاَعْطٰى قَلِيْلًا وَّ اَكْدٰى ﴿۳۴﴾ اَعِنْدَهٗ

آیا تا کتلی دی | هغه چا ته چه | مخ ئې واړولو | او ورئې کړو | لږ (مال) | او | بند ئې کړو | آیا د دۀ سره

آیا تا هغه سړے لیدلے دے کوم چه مخ واړولو او لږ څوني (مال) ئې ورکړو او (بیائې) لاس راټینګ کړو آیا د دۀ سره د

عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرٰى ﴿۳۵﴾ اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ بِمَا فِيْ صُحُفِ مُوْسٰى ﴿۳۶﴾

علم غیب دے | چه دۀ ئې | ګوری | آیا دۀ ته خبر نۀ دے رسیلے | د هغه (خبرو) | چه دی په صحیفو کښې | د موسیٰ

غیبو علم دے چه (هر څۀ) وینی ګوری. آیا دۀ ته د هغه مضمون خبر نۀ دے رارسیدلے چه د موسیٰ په صحیفو کښې دی؟

وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰٓى ﴿۳۷﴾ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ﴿۳۸﴾

او د ابراهیم | چا چه | پوره کړه (خپله وعده) | چه نۀ به اوچتوی | څوک پیټے اوچتوونکے | پیټے | د بل چا

او د ابراهیم د صحیفو چه پوره حکمونه ئې په ځائے کړل، دا چه هیڅ یو بار وړونکے به د بل چا بار اوچتوونکے نۀ شي.

وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿۳۹﴾ وَاَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰى ﴿۴۰﴾

او چه نشته | انسان د پاره | مګر | هغه څۀ چه دۀ ئې کوشش وکړو | او چه | کوشش د دۀ به | ډیر زر | کتلے شي

او دا چه هر انسان ته هم هغه ملاویږی د کوم چه هغه کوشش کوی او دا چه د انسان کوشش به ډیر زر وُلیدلے شي.

ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿۴۱﴾ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى ﴿۴۲﴾

بیا به | جزا ورکړے شي دۀ ته | جزا | پوره | او دا چه | ستا د رب طرف ته | (د ټولو) رسیدل دی

بیا به ورته پوره پوره بدله ورکړے شي او دا چه (ټولو له) ستا د رب طرف ته رسیدل دی.

وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ﴿۴۳﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَاَحْيَا ﴿۴۴﴾ وَاَنَّهٗ خَلَقَ

او دا چه هم دے | خندوی | او ژړوی | او دا چه هم دے | وژل کوی | او ژوندی کول کوی | او دا چه هم دۀ | پیدا کړه

او دا چه هغه خندول او ژړول کوی، او دا چه هغه وژل او ژوندی کول کوی، او دا چه د نر

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿۴۵﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿۴۶﴾ وَاَنَّ

جوړه | د نر | او د ښځې | له یوے نطفے نه | هر کله چه | واچولے شي (په رحم کښې) | او دا چه

او د ښځې جوړې هغه پیدا کړې دی، د نطفے نه څۀ وخت چه (په رحم کښې) تویه کړے شي، او دا چه

عَلَيْهِ النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿۴۷﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿۴۸﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ

هم د دۀ په ذمه دی | پیدا کول | بل | او دا چه هم دے | غني کوی | او سرمایه ورکوی | او دا چه هم دۀ دے

سر دوباره پیدا کول هم د هغۀ ذمه واری ده او دا چه هم هغه غني کوی او هم هغه دولت ورکوی او دا چه هم هغه

رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿۴۹﴾ وَاَنَّهٗۤ اَهْلَكَ عَادَا ۟الْاُوْلٰى ﴿۵۰﴾ وَثَمُوْدَا۟

رب | دَ شعرٰی (ستوری) | او چه هم دهٔ | هلاک کړو | عاد | وړومبی | او ثمود

دَ شعرٰی (ستوری) رب دے او دا چه هغهٔ اولنی عادیان هم تباه کړی دی او ثمودیان هم چه هیڅوک ئے

فَمَآ اَبْقٰى ﴿۵۱﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ

پس باقی ئے پرې نه ښودلو | او قوم دَ نوح | له دے نه وړاندې | بیشکه دوی | وو | دوی | زیات ظالمان

(ترینه) باقی پرې نه ښودی دی او دَ دوی نه وړاندې دَ نوح قوم (ئے هم هلاک کړے وو) ، ځکه چه هغوی ډیر ظالمان

وَاَطْغٰى ﴿۵۲﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰى ﴿۵۳﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿۵۴﴾ فَبِاَيِّ

او زیات سرکشه | او اَلټه کیدونکی کلی ئے | را وغورزول | پس پټ ئے کړل | هغه څه چه پټ ئے کړل | پس په کوم کوم

او سرکشه وو او (دغه) اوړیدلی کلی هم هغهٔ (په بل ځل) اړولی وو نو هغه کلونه را تاوشو څه چه ترینه راتاوشو ، نو ته به دَ

اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿۵۵﴾ هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿۵۶﴾

نعمت کښې | دَ خپل رب به | ته شک کوے | دا | یو ویرونکے دے | له وړومبنو ویرونکو نه

خپل رب په کوم کوم نعمت کښې شک کوے ؟ دا (پیغمبر) هم دَ پخوانو ویرونکو غوندې یو ویرونکے دے .

اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾

نزدے راغے | نزدے راتلونکے | نشته | دَدے | سوا | دَ الله نه | لرے کونکے .

هغه (دَ قیامت) راتلونکے (ساعت) راورسیدو ، دَ الله تعالیٰ نه بغیر دا بل څوک دفع کولے نهٔ شی .

اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾

پس آیا له دے خبرے نه | تاسو تعجب کوئ؟ | او تاسو خاندئ | او تاسو ژاړئ نه

آیا تاسو دَ دے کلام په حقله تعجب کوئ ؟ او خندا کانے وریورے کوئ او ژړا کانے نه کوئ

وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿۶۱﴾ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿۶۲﴾ السجدة

او تاسو | غافله یئ | پس تاسو سجده کوئ | الله ته | او عبادت کوئ .

او تاسو غافلان یئ . خدائے ته سجدے کوئ ، او دَ هغهٔ عبادت کوئ .

سُوْرَةُ الْقَمَرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سوره قمر په مکه کښې نازل شوې او په دے کښې ۵۵ آیتونه او ۳ رکوع دی | شروع کوم د الله په نوم چه لوئے مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے

دَ الله په نوم شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿۱﴾ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا

نزدے راغے | قیامت | او وچودله | سپوږمئ | او که چرې ووینی دوی | نخښه | نو دوی مخ اړوی

قیامت رانزدے شو او سپوږمئ وچودله او دوی که یوه نخښه ووینی نو ترینه مخ اړوی

وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿۲﴾ وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْۤا اَهْوَآءَهُمْ

او وائی | جادو دے | چه همیشه نه راروان دے | او دوی دروغ وګڼلو | او پیروی ئے وکړه | دَ خواهشاتو خپلو

او وینا شروع کړی چه دا خو جادو دے چه دَ همیشه نه راروان دے او دوی پیغمبر دروغژن وګڼلو او په خپلو خواهشونو پسې روان شول

وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّنَ ٱلْأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ ﴿٤﴾

او هر کار دپاره | یو وخت مقرر دے | او بیشکه راغلل دوی ته | هغه خبرونه | په کوم کښے چه | عبرت دے .

او د هر کار یو وخت مقرر دے. او دوی ته دومره ډیر خبرونه راغلل چه په هغې کښے کافي عبرت دے

حِكْمَةٌۢ بَٰلِغَةٌ ۖ فَمَا تُغْنِ ٱلنُّذُرُ ﴿٥﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ يَوْمَ يَدْعُ

حکمت | پوره | پس نه ورکوی فائده | ویرونکی | پس مخ واړوه | له دوی نه | په کومه ورځ چه به | راوبلی

(د) اوچت حکمت (نه ډک دے) خو ویرونکی څیزونه دوی ته هیڅ فائده نه رسوی. نو (اے نبی!) ته د دوی پرواه مه ساته، په کومه ورځ چه

ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَىْءٍ نُّكُرٍ ﴿٦﴾ خُشَّعًا أَبْصَٰرُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ

بلونکے | طرف د یو څیز ناخوښه ته | ښکته کړے | خپلے سترگے | دوی به راوځی | له قبرونو نه

یو رابلونکے (فرښته) به دوی یو ناخوښه څیز ته رابلی، سترگے به ښکته کړے وی، د قبرونو نه به په داسے شان بهر راوځی

كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴿٧﴾ مُّهْطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِ ۖ يَقُولُ ٱلْكَٰفِرُونَ

لکه چه دوی | ملخان دی | خوارهٔ شوی | په منډه به وی | طرف د بلونکی ته | وائی به | کافران

لکه چه ملخان راخوارهٔ شی ، د بلونکی طرف ته به په منډه ورځی ، کافران به وائی چه دا خو ډیره

هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿٨﴾ ۞ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا۟ عَبْدَنَا

دا ورځ ده | ډیره سخته | دروغ گڼلے وو | وړاندے له دوی نه | قوم د نوح | پس دروغ وگڼلو دوی | بنده زمونږ

سخته ورځ ده ، د دے نه وړاندے د نوح قوم (پیغمبران) دروغژن گڼلی وو ، نو زمونږ بندهٔ ئے دروغژن

وَقَالُوا۟ مَجْنُونٌ وَٱزْدُجِرَ ﴿٩﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَغْلُوبٌ

او دوی ووئیل | دیوانه دے | او ده ته سختے خبرے وکړے شوے | پس دعا وکړه | خپل رب | چه زهٔ | مغلوب یم

وگڼلو او داسے ووئیل چه (نوحؑ) لیونے دے او سختے خبرے ورته وکړے شوے په دے بانی هغهٔ خپل رب ته دعا وکړه چه زهٔ ډیر عاجزه شوے یم

فَٱنتَصِرْ ﴿١٠﴾ فَفَتَحْنَآ أَبْوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَفَجَّرْنَا

پس ته بدله واخله | پس پرانستلے مونږ | دروازے | د آسمان | په اوبو سره | چه ډیرے راتویدونکے دے | او روانے کړے مونږ

نو ته زما بدله واخله، نو مونږ د آسمان دروازے د شریدو په اوبو سره راپرانستلے او د زمکے نه مو چینے راوبهولے نو تولے اوبهٔ

ٱلْأَرْضَ عُيُونًا فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾ وَحَمَلْنَٰهُ

له زمکے نه | چینے | بیا جمع شوے | اوبهٔ | په یو خبره | چه مقدر شوے وه | او سور کړو مونږ دے

په هغه کار پسے راټولے شوے کوم چه تجویز شوے وو . او مونږ نوحؑ د تختو

عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ وَدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِى بِأَعْيُنِنَا جَزَآءً لِّمَن

په کشتئ کښے | چه تختو | او میخونو والا وه | روانه به وه | زمونږ د سترگو په وړاندے | د جزا ورکولو دپاره | هغه چا ته

او د میخونو په یوه کشتئ کښے سور کړو ، چه زمونږ د سترگو په وړاندے روانه وه دا د هغه چا د پاره بدل

كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَد تَّرَكْنَٰهَآ ءَايَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ كَانَ

د کوم چه انکار شوے وو | او بیشکه پریښوده مونږ دا | یوه نخښه | نو آیا شته | څوک نصیحت اخستونکے | پس څنگه وو

اخستل وو چه انکار ترے نه شوے وو او دا واقعه مونږ نخښه په طور یادگار پریښوده نو آیا څوک سبق اخستونکے شته؟ نو (وگوره چه) زما

عَذَابِیْ وَنُذُرِ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾

زما عذاب | او زما ویرول | او مونږ آسان کړے دے | قرآن | نصیحت د پاره | پس آیا شته | څوک نصیحت حاصلوونکے

عذاب او زما ویرول څنګه وو او مونږ قرآن (د خلقو د) پوهولو د پاره آسان کړے دے نو ایا شته دے څوک نصیحت قبلوونکے.

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِیْ وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا

دروغژن وګڼلو | قوم د عاد (هم) | پس څنګه وو | عذاب زما | او ویرول زما | بیشکه مونږ لیږلے وه

عاد یانو هم (پیغمبران) دروغژن وګڼل نو (وګوره چه) زما عذاب او زما ویرول څنګه شو، بیشکه مونږ په هغوی باندې

عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِیْ يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنْزِعُ النَّاسَ

په دوی باندې | سیلئ | ډیر سخته | په ورځ کښے | د بدبختۍ | همیشه | را وښکل ئے | خلق

یوه تُنده سیلئ را ولیږله په داسے ورځ چه تل سپیره وه خلق به ئے داسے را غورزول

كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِیْ وَنُذُرِ ﴿٢١﴾

لکه چه هغه | جرړے دی | د قجورے | د بیخ نه وتلے | نو څنګه وو | زما عذاب | او زما ویرول

لکه د راوتلو قجورو تنے چه (په زمکه) پرتے وی. نو (وګوره چه) زما عذاب او زما ویرول څنګه شو؟

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾ كَذَّبَتْ

او مونږ آسان کړے دے | قرآن | د نصیحت د پاره | نو آیا شته | څوک نصیحت قبلوونکے؟ | دروغ ګڼلی وو

او مونږ قرآن (د خلقو د) پوهولو د پاره اسان کړے دے نو آیا څوک نصیحت قبلوونکے شته؟ ثمودیانو هم

ثَمُوْدُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوْٓا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗۤ

(قوم د) ثمود (هم) | ویروونکی | پس دوی ووئیل | آیا د داسے سړی | چه له مونږه نه | یو دے | مونږ پیروی وکړو

پیغمبران دروغژن وګڼل. هغوی ووئیل چه آیا مونږ د خپل ځان په شان یو انسان پسے روان شو (که

اِنَّآ اِذًا لَّفِیْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ ءَاُلْقِیَ الذِّكْرُ عَلَیْهِ

بیشکه مونږ به | دغه وخت (یو) | په ګمراهئ کښے | او لیونتوب کښے | آیا نازله شوے ده | وحی | په ده باندې

داسے وکړو نو) مونږ به په ګمراهئ او لیونتوب کښے اخته شو. آیا په مونږ ټولو کښے صرف هم په ده وحی نازله

مِنْۢ بَیْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَیَعْلَمُوْنَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ

زمونږ له مینځه نه | بلکه | دے | ډیر دروغژن | خود پسند دے | دوی به ډیر زر پوهه شی | صباته | چه څوک دے | دروغژن

شوے ده؟ نه بلکه دے عنې دروغژن دے چه لافې وهی. صبا (په قیامت کښے) به ورته معلومه شی چه څوک عنې

الْاَشِرُ ﴿٢٦﴾ اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾

خود پسند | بیشکه مونږ | رالیږوونکی یو | د اوښے | د دوی د آزمیښت د پاره | پس انتظار کوه د دوی | او صبر کوه.

دروغژن او لافو کړونکے دے مونږ د دوی د آزمیښت د پاره یوه اوښه لیږو نو ته د دوی کاروته ګوره او د صبر نه کار اخله.

وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَیْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾

او ته خبر کړه دوی | چه دا اوبه | تقسیم شوی دی | د دوی په مینځ کښے | هر یو له | د اوبو په وار باندې | حاضریدل پکار دی

او دوی خبر کړه چه اوبه د دوی ترمینځه ویشلے شوی دی، نو د وار خاوندان دې په خپل وار حاضریږی.

فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ

پس اواز ورکړو دوی | خپل ملګری ته | نو ده لاس واچولو | پس زخمی ئې کړله | پس څنګه وو | زما عذاب

بیا هغوئی خپل (بدبخت) ملګرے راوغوښتلو هغهٔ (اوبنه) ونیوله او د هغې پښې ئې زخمی کړلے. نو (وګوره چه) زما عذاب او زما

وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ

او ویرول زما | بیشکه مونږ راولیږله | په دوئی بانې | چغه | هم یوه | پس شول دوی | په شان د چوړے د شپول

ویرول څنګه شو. مونږ په هغوئی یوه چغه ولیږله ، نو دا لکه چوړه شول لکه د شپول لګونکی (د لاسه)

الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾

د شپول جوړونکی | او بیشکه مونږ آسان کړو | قران | د پاره د نصیحت | پس آیا شته | څوک نصیحت قبلوونکے؟

دوبیں لے د بوسو چوړه او مونږ قرآن د پوهیدلو د پاره آسان کړے دے پس څوک شته چه نصیحت قبول کړی؟

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍۭ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا

دروغژن ګنڼلی وو | قوم د لوط (هم) | ویرونکی | بیشکه مونږ | راولیږله | په دوئی بانې | د کانړو سیلئی

د لوط عليه السلام قوم هم پیغمبران دروغژن وګنړل. نو په هغوئی بانې مونږ د کانړونه ډکه سیلئی وچلوله

اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا ؕ كَذٰلِكَ

سوا | د لوط عليه السلام د کور والو نه | خلاصے ورکړه مونږ دوئی ته | سحر وختی | په مهربانئ سره | د خپل طرف نه | دغه شان

خو د لوط عليه السلام کور والا مو بچ کړل ، هغوئی مو سحر وختی بچ کړل . دا زمونږ فضل وو ، څوک چه (زمونږ) شکر

نَجْزِيْ مَنْ شَكَرَ ﴿۳۵﴾ وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾

مونږ بدله ورکوو | هغه چا ته چه شکر کوی | او بیشکه | ده و ویرول دوئی | زمونږ د نیولو نه | نو دوئی شک وکړو | په ویرونکے

و باسی مونږ ورله داسے بدله ورکوو. او (پیغمبر) دغه خلق زمونږ د نیولو نه ویرولی وو هغوئی په دغه تعلیم کښے جګړے راوویستے

وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ

او دوئی له ده نه وغوښتل | د ده د میلمانه | نو مونږ ړندے کړے | سترګے د دوئی | پس وڅکئ | زما عذاب

او د لوط عليه السلام نه ئے د هغهٔ میلمانهٔ په بد نیت وغوښتل نو مونږ ورله سترګے په تپو ړندے کړے چه اوس زما عذاب او زما د ویرو

وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ

او زما ویرول | او بیشکه | د سحر په دوی بانډی راپریوتلو | وختی | عذاب | دائمی | پس وڅکئ | زما عذاب

مزه وڅکئ او صبا وختی په هغوئی بانې دائمی عذاب راغے . نو (وا خلق) زما د عذاب او د ویرولو

وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾ وَلَقَدْ

او زما ویرول | او بیشکه مونږ آسان کړے دے | قرآن | د پاره د نصیحت | نو آیا شته | څوک نصیحت قبلوونکے؟ | او بیشکه

خوند وڅکئ . او مونږ قرآن د پوهیدلو د پاره آسان کړے دے نو څوک سبق اخستونکے شته ؟ او د فرعون

جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿۴۱﴾ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ

راغلل | قوم د فرعون ته (هم) | ویرونکی (پیغمبران) | دوئی دروغ وګنړلے | زمونږه نخښے | ټولے | نو مونږ ونیول دوی

قوم ته د ویرے ډیر څیزونه ورسیدل . هغوئی زمونږ ټولے نخښے دروغ وګنړلے نو مونږ هغوئی داسے

اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ۞۴۲ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ اَمْ لَكُمْ

پہ شان دَ نیولو | دَ غالب | قوي | آیا کافران ستاسو | غوره دي | له دے خلقو نه | یا تاسو دَ پاره

راو نیول لکه څنګه چه یو مضبوط او دَ قدرت خاوند رانیول کوي۔ آیا ستاسو دَ زمانے کافران دَ هغوئی نه غوره دي یا تاسو دَ پاره

بَرَآءَةٌ فِى الزُّبُرِ ۞۴۳ اَمْ يَقُوْلُوْنَ نَحْنُ جَمِيْعٌ مُّنْتَصِرٌ ۞۴۴

خلاصے (بیکلے شوے) دے | پہ کتابونو کښے | یا | دوي وائي | موږ | یو ټولے یُو | انتقام اخستونکے

پہ کتابونو کښے څه معافي لیکلے شوے ده؟ یا دوئی دا خیال کوي چه موږ یو داسے ټولے یُو چه تل به غالب یُو۔

سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ ۞۴۵ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ

ډیر زر به ماتے ورکړی شي | دے جماعت ته | او دوئ به ګرځوي دوي | شا | (نه) بلکه | قیامت | دَ دوي دَ وعدے وخت دے

دا ټولے به زر ماتے ورکړي او په شا اوږخ به وتښتي خو دَ دوئ په حقله اصلي وعده خو دَ قیامت وعده ده

وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ ۞۴۶ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِىْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ۞۴۷

او قیامت | ډیر سخت | او ډیر تریخ دے | بیشکه | مجرمان خلق | په ګمراهئ | او لویه بے عقلئ کښے دي

او قیامت ډیر سخت او تریخ څیز دے۔ دا مجرمان په غټه ګمراهئ او په لویه بے عقلئ کښے پراته دي.

يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِى النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ؕ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ۞۴۸

په کومه ورځ چه | دوي به راښکلے شي | په اور کښے | په مخونو دَ دوي | چه وڅکئ تاسو | لاس رسول | دَ دوزخ

په کومه ورځ چه به اور کښے په مخ راښکلے شي (او ورته به وویلے شي) چه (اوس) دَ دوزخ دَ اور خوند وڅکئ

اِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ۞۴۹ وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ

بیشکه موږ | هر څیز | پیدا کړے دے | په یو اندازه | او نه دے | زمونږ حکم | مګر (صرف) | یو (حکم)

موږ هر یو څیز په یو خاص انداز پیدا کړے دے۔ او زمونږ حکم به بس داسے ناګهانه راشي

كَلَمْحٍۢ بِالْبَصَرِ ۞۵۰ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَآ اَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ۞۵۱

په شان دَ رپ | دَ سترګے | او بیشکه هلاک کړي دي موږ | ستاسو په شان ډلے | پس آیا | څوک نصیحت قبلوونکے شته؟

لکه دَ سترګے رپ۔ او موږ ستاسو په شان څومره هلاک کړي دي، بیا شته څوک عبرت اخستونکے؟

وَكُلُّ شَىْءٍ فَعَلُوْهُ فِى الزُّبُرِ ۞۵۲ وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّكَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ ۞۵۳

او هر یو څیز | چه کړے دے دوي | په اعمالنامه کښے (موجود) دے | او هر یو | ورکوټے | او لوئے (کار) | لیکلے شوے دے

او هر څه چه دوئ کړي دي په کتابونو کښے درج دي۔ او هره وړه او غټه خبره لیکلے درج ده.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِىْ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ۞۵۴ فِىْ مَقْعَدِ صِدْقٍ

بیشکه | پرهیزګاران به | په باغونو کښے | او نهرونو کښے وي | په ځائے | رښتیني کښے

بیشکه پرهیزګاران به په باغونو کښے دننه او دَ نهرونو په غاړو اوسیږي، په یو اوچت ځلئے کښے دَ هغه

عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ۞۵۵

نزدے | دَ بادشاه | دَ قدرتونو خاوند

بادشاه سره چه دَ قدرتونو خاوند دے۔

سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٍ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورۀ رحمان مدینه کښے نازل شوے ده | (شروع کوم) په نامه دَ الله چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ۷۸ آیتونه او ۳ رکوع دی

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

اَلرَّحْمٰنُ ۝١ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۝٢ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۝٣ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝٤

رحمان | وښودلو | قرآن | دۀ پیدا کړو | انسان | وَ ئے ښودله دۀ ته | وینا

الله ډیر مهربان دے چه دَ قرآن تعلیم ئے ورکړے دے، هم هغۀ انسان پیدا کړے دے، هغۀ ته ئے وینا ښودلے دۀ۔

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۝٥ وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۝٦

نمر | او سپوږمۍ | په یو حساب (روان) دی | او | بوټي | او ونے | سجدے کوی۔

نمر او سپوږمۍ (هم) دَ حساب پابند دی. او بوټي او ونے (هم هغۀ ته) سجدے کوی

وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۝٧ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ۝٨

او آسمان | دۀ اوچت کړودا | او دۀ کیښوده | تله | چه تاسو زیاتے مۀ کوئ | په تله کښے

او آسمان هغۀ اوچت کړے دے او تله (دَ انصاف ئې) ایښے دۀ چه تاسو په تول کښے ګړبړ نۀ کوئ۔

وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ۝٩ وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا

او قائم کړئ | وزن | په انصاف | او مۀ کوئ کمے | په تله کښے | او زمکه | دۀ وغوړوله دا

او تول په انصاف بانډې برابر ساتئ، او په تله کښے کمے مۀ کوئ. او هم هغۀ دَ خلقو دَ پاره

لِلْاَنَامِ ۝١٠ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ۝١١ وَالْحَبُّ

دَ پاره دَ مخلوق | په دے کښے | میوے دی | او اونے دَ قجورے | میرغڼے دَ غلافونو | او غله

زمکه غوړولے دۀ چه په هغے کښے میوے دی او دَ غلافونو میرغڼے دَ قجورو اونے او غله ده چه دَ

ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ۝١٢ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝١٣ خَلَقَ

دَ بوسو والا | او خوشبویه ګلونه | پس کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | دۀ پیدا کړو

بوسو او دَ خوراکے (دواړو) څیزونه او خوشبویه ګلونه. نو (اے پیریانو او انسانانو) تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ؟ هغۀ

الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ۝١٤ وَخَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ

انسان | دَ اوچے خټے نه | په شان دَ ټیکری | او دۀ پیدا کړل | پیریان | له شعلے

انسان ئې دَ داسے خاورے نه را پیدا کړو چه دَ ټیکری په شان ټنګیدله. او پیریان ئے دَ اور دَ شعلے نه را پیدا

مِّنْ نَّارٍ ۝١٥ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝١٦ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ

دَ اور نه | پس کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | رب دے | دَ دواړو مشرقونو | او رب دے

کړل. نو تاسو دواړه به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ؟ هغۀ دَ دواړو مشرقونو رب دے او دَ دواړو

الْمَغْرِبَيْنِ ۝١٧ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝١٨ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ

دَ دواړو مغربونو | نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | دۀ وبهیول | دوه دریابونه

مغربونو رب دے. نو تاسو دواړه به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ. هغۀ دوه دریابونه یو ځائے کړل

يَلْتَقِيٰنِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ
چه جمع شي دواړه | دَ دې دواړو ترمينځه | پرده ده | چه په يو بل باندې نه ورتيريږي | پس كوم كوم | نعمتونه
چه سره يو ځلے هم دي او دَ دے دواړو ترمينځه پرده ده چه دواړه پرے يو بل ته وړاندې كيدے نه شي . نو تاسو دواړه به دَ

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ
دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ گڼړئ؟ | راوځي | له دے دواړو نه | ملغلرے | او مرجان | پس كوم كوم | نعمتونه
خپل رب كوم كوم نعمتونه دروغ گڼړئ؟ دَ دے دواړو دريابونو نه ملغلرے او مرجان راوځي . نو بيا تاسو دواړه به دَ

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٣﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿٢٤﴾
دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ گڼړئ | او هم دَده دي | كشتۍ | اوچتے ولاړے | په درياب كښے | په شان دَ غرونو
خپل رب كوم كوم نعمتونه دروغ گڼړئ؟ او دغه جهازونه هم دَهغهٔ په اختيار كښے دي چه په سمندر كښے دَ غرونو په شان اوچت ولاړ دي

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٥﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَّيَبْقٰى
پس كوم كوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ گڼړئ | هر څوک چه | په دے (زمكه) دي | فاني كيدونكے دے | او باقي به پاتے كيږي
بيا تاسو دواړه به دَ خپل رب كوم كوم نعمتونه دروغ گڼړئ؟ هر څوک چه په دے زمكه باندې آباد دي هغه فنا كيدونكي دي او صرف

وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٨﴾
ذات | ستا دَ رب | چه خاوند دَ لوئ شان | او دَ عظمت دے | پس كوم كوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ گڼړئ
ستا دَ رب ذات به باقي پاتے وي چه دَ لوئيئ او دَ احسان خاوند دے . نو تاسو دواړه به دَ خپل رب كوم كوم نعمتونه دروغ گڼړئ

يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ ﴿٢٩﴾
سوال كوي له دَهٔ نه | څوک چه | په آسمانونو كښے | او زمكه (كښے دي) | هره ورځ | دے | په يو (نوی) شان كښے دے
دَ آسمانونو او دَ زمكے ټول مخلوق دَ هغهٔ نه خواست كوي . هغه هر وخت په يو كار كښے لگيا وي .

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٠﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ
نو كوم كوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ گڼړئ | مونږ به ډير زر فارغ (متوجه) شو | تاسو دَ پاره | اے
نو تاسو دواړه به دَ خپل رب كوم كوم نعمتونه دروغ گڼړئ؟ اے دَ پيريانو او انسانانو (ډلو)! مونږ به ډير زر تاسو ته اوزگار شو

الثَّقَلٰنِ ﴿٣١﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٢﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ
پيريانو او انسانانو! | نو كوم كوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ گڼړئ | اے ډلے | دَ پيريانو | او انسانانو!
او تاسو ته به متوجه كيږو، بيا تاسو به دَ خپل رب كوم كوم نعمتونه دروغ گڼړئ؟ اے دَ پيريانو او انسانانو ډلو!

اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ۭ
كه چيرے | ستاسو وس رسي | چه | بهر ته لاړ شئ | له غاړو نه | دَ آسمانونو | او دَ زمكے | نو اووځئ
كه چيرے تاسو نه كيدے شي چه دَ آسمانونو او دَ زمكے دَ حدونو نه چرته اووځئ نو (بيشكه) اووځئ

لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿٣٣﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٤﴾ يُرْسَلُ
بهر ته به لاړ نه شئ | مگر په زور سره | نو كوم كوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ گڼړئ | راليږلے به شي
خو بغير دَ زور نه وتلے نه شئ . نو تاسو دواړه به دَ خپل رب كوم كوم نعمتونه دروغ گڼړئ؟ په تاسو دواړو

عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ

په تاسو باندې | شعلې | دَ اور | او لوګے | پس مقابله به نهٔ شئ کولے تاسو | پس کوم کوم | نعمتونه

دَ اور شعلې او لوخړے را پرېښودے شي نو تاسو به ئې بيرته کولے نهٔ شئ. نو تاسو دواړه به دَ خپل رب

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٦﴾ فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿٣٧﴾

دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | بيا هر کله چه | وچوي | آسمان | نو شي به | سُور | په شان دَ څرمنې سرې

کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ؟ بيا هر کله چه آسمان وُشليږي او دَ سرے څرمنې په شان تک سُور شي

فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٨﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ

پس کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | پس په دغه ورځ به | سوال نهٔ شي کيدے | دَ ده دَ ګناه په حقله

نو تاسو دواړه به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ؟ بيا په دغه ورځ به دَ انسان يا دَ پيرې نه دَ هغهٔ دَ

اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿٣٩﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٠﴾ يُعْرَفُ

له هيڅ انسانه | او نهٔ له پيرې نه | نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | پيژندلی به شي

ګناهونو په حقله پوښتنه نهٔ کيږي. نو تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ؟ مجرمان خو به دَ شکل

الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ وَالْأَقْدَامِ ﴿٤١﴾ فَبِأَيِّ

مجرمان | دَ خپلو څيرو نه | پس نيولی به شي دوی | په ويښتو دَ تندی | او په قدمونو | پس کوم کوم

نه په خپله پيژندے شي، نو دَ تندی (دَ ويښتو) او د پښو نه به رانيولے شي، نو تاسو دواړه

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٢﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ وقف لازم

نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | دا دے | دوزخ | هغه چه | دروغ به ګڼړلو هغه | مجرمانو

به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ؟ دا هغه دوزخ دے چه مجرمانو به دروغ ګڼړلو.

يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ ﴿٤٤﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

دوی به چارچاپيره ګرځي | په مينځ دَ دې کښې | او په مينځ دَ تو دو ايشيدلو اوبو کښې | پس کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه

دوی به دَ دغه اور او دَ ګرمو ايشيدلو اوبو ترمينځه په ګرځيدلو (مجبوره) وی نو تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ

تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿٤٦﴾ فَبِأَيِّ ٢ع ١٢

دروغ ګڼړئ | او دَ پاره دَ هغه چا | چه ويريږي | له اودريدلو | دَ خپل رب په وړاندې | دوه باغونه به وی | نو کوم کوم

ګڼړئ؟ او څوک چه دَ خپل رب په وړاندې دَ اودريدلو نه ويريږي هغوئ دَ پاره به دوه باغونه وی. نو تاسو دواړه

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٩﴾

نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ | دَ ډيرو ښاخونو والا | نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ

به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ؟ په دې دواړو باغونو کښې به ډير ښاخونه وی بيا تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ

فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥١﴾

په دې دواړو کښې به | دوه چينې | بهيږي | نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼړئ

په دې دواړو باغونو کښې به دوه چينې بهيږي. بيا تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼړئ

فِيهِمَا مِن كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾

په دې دواړو کې به | د هرې میوې | دوه قسمه وي | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼئ؟

په هغو کې به د هرې یوې میوې دوه دوه قسمه وي. بیا تاسو به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟

مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ

تکیه لګوونکي | په فرشونو باندې | چې استر د هغې به | د پیړو ریښمو وي | او میوې | د دواړو باغونو

هغوی به د ډې و هغې په داسې فرشونو باندې ناست وي چې استرونه به یې د برغورې ریښمو نه جوړ وي او د دواړو باغونو میوې به نږدې

دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ

نږدې به وي | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تا دواړه | دروغ ګڼئ؟ | په دې کې به | ښځې وي | سترګې ښکته ساتونکې

وي. نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ په هغه کې به سترګې ښکته ساتونکې ښځې وي.

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

دوی ته به لاس نه وي وروړی | چا انسان | له دوی نه وړاندې | او نه چا پیرۍ | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تا دواړه

په دې جنتیانو نه وړاندې چا انسان یا پیرۍ به لاس نه دی ورلګولی او ور وړې نه وي. نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه

تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

دروغ ګڼئ؟ | لکه چې دوی | یاقوت | او مرجان دي | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تاسو دواړه

دروغ ګڼئ؟ هغه ښځې به داسې (سرې سپینې) وي لکه یاقوت او مرجان. نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم

تُكَذِّبَانِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

دروغ ګڼئ؟ | نه دی | جزا | د نیکۍ | سوا | د نیکۍ نه | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تا دواړه

نعمتونه دروغ ګڼئ؟ او د احسان بدله د احسان نه سوا نوره څه ده. نو تاسو به د خپل رب کوم کوم نعمتونه

تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾ وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾

دروغ ګڼئ؟ | او د دې دواړو نه علاوه | دوه باغونه نور دي | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼئ؟

دروغ ګڼئ؟ او د دې دواړو نه علاوه به دوه باغونه نور وي. نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟

مُدْهَامَّتَانِ ﴿٦٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ

دواړه به تک شنه وي | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼئ؟ | په دې دواړو کې به | چینې وي

دواړه (باغونه) به تک شنه (وي)، نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ په دې باغونو کې به د اوبو دوه

نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾ فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ

راخوټکیدونکې | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تا دواړه | دروغ ګڼئ؟ | په دې دواړو کې به | میوې | او کجورې

چینې راخوټکیږي. بیا تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ په دې (باغونو) کې به میوې او کجورې

وَرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾ فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾

او انار وي | نو کوم کوم | نعمتونه | د خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼئ؟ | په دې کې به | غوره | ښائسته ښځې (وي)

او انار وي. نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ په دې باغونو کې به نیک خویه ښکلې میرمنې وي

فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧١﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾

نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼئ؟ | حورے دی | محفوظے | په خیمو کښے

نو تاسو دواړه به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ (دا) حورے به په خیمو کښے دننه محفوظے وی.

فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ

نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼئ | دوئ ته به لاس نه وی وروړے | چا بنیادم | ورانښے له دوئ نه

نو تاسو دواړه به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ دَ دوئ نه وړاندے به ورته چا انسان یا پیری لاس

وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ

او نهٔ چا پیری | نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه | دروغ ګڼئ | تکیه به ئے لګولی وی

قدرِ لګولے هم وروړے نه وی. نو تاسو دواړه به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼئ؟ دوئ به په شنو شنو اعلیٰ

عَلٰى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

په بالښتونو | شنو بانډیو | او (په) فرشونو | ښائسته بانډے | نو کوم کوم | نعمتونه | دَ خپل رب به تاسو دواړه

مُتکو او په ښائسته صوفو ډډے وهلی وی. نو تاسو دواړه به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ

تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٧﴾ تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

دروغ ګڼئ؟ | برکت والا دے | نوم | ستا دَ رب | خاوند دَ لوئے شان | او عظمت دے.

ګڼئ؟ ستا دَ رب نوم ډیر برکتی دے چه دَ لوئے شان او عظمت خاوند دے.

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة واقعه په مکه کښے نازل شوے په دے کښے ۹۶ آیتونه او ۳ رکوع دی

(شروع) په نامه دَ الله چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

دَ الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ

هر کله چه واقع شی | واقع کیدونکے (قیامت) | نشته | په واقع کیدو دَ دے کښے | دروغ | ښکته کوونکے

څهٔ وخت چه قیامت راشی، چه دَ هغې په واقع کیدو کښے هیڅ خلاف نشته. نو څوک به ښکته کړی

رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾ اِذَا رُجَّتِ الْاَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ

او چتوونکے دے | هر کله چه خوزولے به شی | زمکه | سخته زلزلے سره | او ریزه ریزه به شی | غرونه

(او) څوک به بره کړی، څهٔ وخت چه به په زمکه په ډیرزور سره زلزله راشی. او غرونه به ریزه ریزه

بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ﴿٦﴾ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ﴿٧﴾

په ریزه ریزه کیدو سره | نو شی به | دوړه | خوره (الوتلے) | او شئ به تاسو | قسمونه | درے

شی. نو خوره (الوتلے) دوړه به شی. او ستاسو به درے ډلے شی.

فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ مَآ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾ وَاَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ

نو ښی لاس والا | څهٔ (ښهٔ) دی ښی لاس والا | او ګس لاس والا

نو دَ ښی لاس خاوندان، دغه دَ ښی لاس خاوندان څومره ښهٔ خلق دی او دَ ګس لاس خاوندان

مَآ اَصۡحٰبُ الۡمَشۡـَٔمَةِ ۝٩ وَالسّٰبِقُوۡنَ السّٰبِقُوۡنَ ۝١٠ اُولٰٓئِكَ

څهٔ (بد) دي کس لاس والا | او کوم چه وړاندې تلونکي دي | هغه هم وړاندې تلونکي دي | هم دا خلق

دغه د کس لاس خاوندان څومره خراب خلق دي او (کوم چه) د اوچتې مرتبې خاوندان (دعالم) هغوئي د اوچتې مرتبې خاوندان دي

الۡمُقَرَّبُوۡنَ ۝١١ فِىۡ جَنّٰتِ النَّعِيۡمِ ۝١٢ ثُلَّةٌ مِّنَ الۡاَوَّلِيۡنَ ۝١٣

(الله ته) نږدې دي | په باغونو کښې | د نعمت به وي | ډیر به وي | له پخوانو خلقو نه

هغوئي (الله ته) ډیر نږدې دي چه د نعمتونو نه ډک باغونو کښې به وي، په دوئي کښې یو لوئې ټولے به د پخوانو وي.

وَقَلِيۡلٌ مِّنَ الۡاٰخِرِيۡنَ ۝١٤ عَلٰى سُرُرٍ مَّوۡضُوۡنَةٍ ۝١٥ مُّتَّكِـِٕيۡنَ

او لږ به وي | له وروستنو خلقو نه | په تختونو (به وي) | د سرو زرو نه پئړلے شوي | تکیه وهونکي

او لږ خلق به د وروستنو خلقو نه وي. دوئي به د سرو زرو د تارونو نه په پئړلو شوو تختونو، ارخونه لګولي یو

عَلَيۡهَا مُتَقٰبِلِيۡنَ ۝١٦ يَطُوۡفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَانٌ مُّخَلَّدُوۡنَ ۝١٧

په هغې باندې | یو بل ته مخامخ | ګیرچاپیره به ګرځي | په دوئي باندې | خادمان | همیشه ځوانان

بل ته مخامخ ناست وي، داسے هلکان به ورباندې ځیزونه ګرځوي چه تل به هلکان وي

بِاَكۡوَابٍ وَّاَبَارِيۡقَ ۙ وَكَاۡسٍ مِّنۡ مَّعِيۡنٍ ۝١٨ لَّا يُصَدَّعُوۡنَ عَنۡهَا

په ګلاسونو | او جګونو | او جامونو سره | له صفا شرابو نه | نهٔ به د سرد رد راځي | له هغې نه

صراحئ او کوزے او د بهیدونکو شرابو (ډکے) پیالئ. چه نهٔ به سرخوږے راولي

وَلَا يُنۡزِفُوۡنَ ۝١٩ وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوۡنَ ۝٢٠ وَلَحۡمِ طَيۡرٍ

او نهٔ به دوئي مستیږي | او میوے | له هغه څهٔ نه | چه دوئي یې غواړي | او غوښه | د مرغانو

او نهٔ به په عقل تیارهٔ راخوروي، او داسے میوے کوم چه هغوئي خوښوي. او د مرغانو غوښه کوم چه

مِّمَّا يَشۡتَهُوۡنَ ۝٢١ وَحُوۡرٌ عِيۡنٌ ۝٢٢ كَاَمۡثَالِ اللُّؤۡلُـٔوِ الۡمَكۡنُوۡنِ ۝٢٣

چه دوئي به یې خوښوي | او حورے د غټو سترګو | په شان | د ملغلرو | پټو ساتلے شوو

د هغوئي زړونه غواړي. او حورے د غټو غټو سترګو میرمنے، داسے پاکیزه لکه پټے ساتلے ملغلرے.

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ۝٢٤ لَا يَسۡمَعُوۡنَ فِيۡهَا

بدله | د هغه څهٔ | چه دوئي به کول | دوئي به نهٔ آوري | په جنت کښې

دا به د هغوئي د نیکو عملونو بدله وي چه هغوئي به کول. نهٔ به هلته فضول خبره

لَغۡوًا وَّلَا تَاۡثِيۡمًا ۝٢٥ اِلَّا قِيۡلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ۝٢٦ وَاَصۡحٰبُ الۡيَمِيۡنِ ۙ

فضول خبره | او نهٔ د ګناه خبره | مګر وینا | سلام سلام | او د ښي لاس خاوندان

اوري او نهٔ د ګناه وینا، بس هر طرف نه به هم د سلام سلام آواز راځي او د ښي لاس خاوندان

مَآ اَصۡحٰبُ الۡيَمِيۡنِ ۝٢٧ فِىۡ سِدۡرٍ مَّخۡضُوۡدٍ ۝٢٨ وَّطَلۡحٍ

څهٔ (ښهٔ) به وي | د ښي لاس خاوندان | (دوئي به وي په) بیرو | بے ازغو کښې | او کیلے

څومره ښهٔ خلق دي. هلته به اوسیږي چه بے ازغو بیرے به په کښے وي، او قطار په قطار

مَّنْضُوْدٍ ﴿٢٩﴾ وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿٣٠﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿٣١﴾ وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ ﴿٣٢﴾

قطار په قطار | او په سورې اوږده کښې | او په اوبو راروانو شوو کښې | او په میوو | ډیرو کښې ـ

کیلې به وي، او اوږده اوږده سوري به وي، او بهیدونکي اوبه به وي، او ډیرې ډیرې میوې به وي

لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ ﴿٣٤﴾ اِنَّآ

چه نه به ختمیږي | او نه به منع کیدلې شي | او په فرشونو | اوچت کړے شوو کښې | بیشکه موږ

نه به خلاصیږي او نه به پرې پابندي څه بندیزوي او اوچت اوچت فرشونه به وي، موږ د هغو ښځې

اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا اَتْرَابًا ﴿٣٧﴾

پیدا کړي دي (حورې) | په خاص انداز سره | پس جوړې کړې موږ دوی | پیغلې | محبوبې | همځولې

ښځې ډیرے ښه رنګه کړي دي، دا سے مو سازے کړي دي چه تل به پیغلې، محبوبې او همځولې وي،

لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ

د ښي لاس خاوندانو د پاره | (دوی به وي) ډیر | له مخکنو خلقو نه | او ډیر

د ښي لاس د خاوندانو د پاره، په دوی کښې ډیر کسان به د مخکنو خلقو وي، او ډیر کسان به

مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ﴿٤١﴾

له وروستنو خلقو نه | او د ګس لاس خاوندان | څومره (بد دي) د ګس لاس خاوندان

د وروستنو خلقو وي ـ او څوک چه د ګس اړخ خاوندان وي (هاهاه!) د ګس اړخ خاوندان څومره خراب خلق دي!

فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ﴿٤٢﴾ وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ

په ګرم باد | او په ګرمو اوبو کښې به وي | او په سوري (کښې) | د تور لوګي | نه به يخ وي

په ګرمو بادونو او په ایشیدونو اوبو کښې او د تک تور لوګي په سوري کښې به وي چه نه به یخ وي

وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿٤٤﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ

او نه به د عزت وي | بیشکه دوی | وو | له دے نه وړاندې | خوشحاله | او دوی به ضد کولو

او نه به زړه خوشحالوي ـ دغه خلق د دے (قیامت) نه وړاندې ډیر خوشحاله وو، او په ډیره غټه ګناه (یعني شرک) باندې

عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ اَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا

په ګناه | لویه | او دوی به ویل | آیا هر کله چه | موږ مړه شو | او شو موږ

کلک ټینګي وو ـ او دا به یې ویل چه آیا موږ چه یو ځل مړه شو او خاورے

تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٤٧﴾ اَوَ اٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ اِنَّ

خاورے | او هډوکي | آیا موږ به | دوباره راپاڅولے شو | آیا زموږ مخکني پلار نیکونه (هم) | ووایه | بیشکه

او هډوکي شو نو لا هیا به هم راژوندي کیږو؟ او لا زموږ مخکني پلاران نیکونه هم؟ (اے نبي!) ته ورته

الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ

وړاندیني (هم) | او وروستني (هم) | ضرور به جمع کولے شي | په مقرره وخت د یوې ورځې

ووایه چه وړاندیني او وروستني ټول به راغونډولے شي ـ د یوې مقررے ورځے

مَّعْلُوْمٍ ۝٥٠ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ ۝٥١
معلومے | بیا | بیشکه تاسو | اے | ګمراهانو | دروغ ګڼرونکو
په ټاکلي وخت بیا به تاسو اے ګمراهانو ! دروغ ګڼرونکو !
لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ۝٥٢ فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ۝٥٣
خامخا به خورئ تاسو | او نه | دَ زقوم | بیا به ډکوئ | له هغه نه | ګېډې
دَ زقوم دَ اونې نه خوراکونه کوئ ، بیا به هم له دے نه ګېډې ډکوئ
فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ۝٥٤ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ ۝٥٥
بیا به څښئ | په هغے بانډې | یشیدلے اوبه | بیا به څښئ | په شان دَ څښلو | دَ اوښ تږی
بیا به په دے بانډې یشیدلے اوبه څښئ ، بیا به دَ سخت تږی اوښ په شان څښئ .
هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ۝٥٦ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ۝٥٧
دا به | دَ دوئ میلمستیاوی | په ورځ دَ جزا | هم مونږ | پیدا کړی تاسو | پس ولے تصدیق نه کوئ تاسو
دا به دَ قیامت په ورځ دَ هغوئ میلمستیاوی ، هم مونږ تاسو پیدا کړی یئ بیا ولے قیامت نه منئ ؟
اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ۝٥٨ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ
آیا وینئ تاسو | هغه څه | چه تاسو ئے توئ وئ | آیا تاسو | پیدا کوئ هغه | یا هم مونږ
ښه ! دا راته ووایئ چه تاسو کومه منی (دَ رحم ته) رسوئ نو تاسو ترے نه پیدا دَم دغوئ کهٔ مونږ ئے
الْخٰلِقُوْنَ ۝٥٩ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا
پیدا کوونکی یو ؟ | مونږ | مقرر کړے دے | ستاسو په مینځ کښے | مرګ | او نه یو
ترے پیدا کوو ؟ مونږ ستاسو تر مینځه مرګ مقرر کړے دے او مونږ دَ
نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ۝٦٠ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ وَ
مونږ | عاجز کړی شوی | له دے خبرے نه چه | بدل کړو مونږ | ستاسو غونډې خلق | او
دے نه عاجزه نه یو چه ستاسو په ځلئے ستاسو غونډې نور خلق را پیدا کړو او تاسو
نُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٦١ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْاَةَ
مونږ پیدا کړو تاسو | په داسے صورت کښے | چه تاسو ئے نه پیژنئ | او بیشکه پیژنئ تاسو | پیدا ښت
په داسے حالت کښے را پیدا کړو چه تاسو ته هیڅ معلوم نه وی . او تاسو ته دَ وړومبی پیدا ښت حال ډیر ښه
الْاُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝٦٢ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ۝٦٣
وړومبے | بیا ولے نه | کوئ غور تاسو | آیا کتلی دی تاسو | هغه څه چه | کرئ ئے تاسو ؟
معلوم دے نو ولے ځان نه پوهوئ ؟ ښه ! دا خو ووایئ چه تاسو چه څهٔ کروندہ کوئ نو
ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ۝٦٤
آیا تاسو | رازرغونوئ هغه | یا | هم مونږ | راټوکوونکی یو ؟
هغه تاسو راټوکوئ کهٔ مونږ ئے رازرغونوو ؟

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اِنَّا

کهٔ چرې | موږ وغواړو | نو کړو به موږ دا | ریزه ریزه | پس شئ به تاسو | حیران پاتې شوی | بیشکه موږ

کهٔ موږ وغواړو نو هغه به چوره چوره کړو نو تاسو به ورته حریان دریان پاتې شئ. چه اوس

لَمُغْرَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ

په تاوان کښې پرېوتلو | بلکه | موږ یو | بې نصیبه | آیا کتلی دی تاسو | هغه اوبه | کوم چه

خو موږ په تاوان کښې راغلو. بلکه (داخل خو) بالکل تش تورې پاتې شو. ښه! (دې) اوبو ته خو وګورئ چه تاسو

تَشْرَبُوْنَ ﴿٦٨﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿٦٩﴾

تاسو څښئ | آیا تاسو | دا ښکته کړې دی دا | له وریځې نه | یا هم موږ | ښکته راوستونکی یو؟

ئې څښئ. آیا دا تاسو د وریځو نه راوروی کهٔ د دې راوړونکی هم موږ یو؟

لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ

کهٔ چرې موږ وغواړو | نو کړو به موږ دا | ترخې | نو تاسو ولې شکر نهٔ کوئ | آیا لیدلې دې تاسو | هغه اور

کهٔ موږ وغواړو نو دا به ترخې کړو نو تاسو ولې شکر نهٔ کوئ؟ ښه! هم اور ته وګورئ

الَّتِيْ تُوْرُوْنَ ﴿٧١﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ

کوم چه | تاسو ئې بلوئ | آیا تاسو | پیدا کړې دی | اونهٔ د هغې | یا | هم موږ

کوم چه تاسو بلوئ. آیا د دې اونه تاسو پیدا کړې ده یا د (دې) پیدا کونکی

الْمُنْشِـُٔوْنَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿٧٣﴾

پیدا کوونکی یو | هم موږ | جوړ کړې دا | نصیحت | او فائده | د پاره د مسافرو

موږ یو؟ دا خو موږ د نصیحت یوه ذریعه او حاجتمند وګړو له فائده منې څیز جوړ کړې ده

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٧٤﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿٧٥﴾

پس پاکي بیانوه | د نامه | د رب خپل | چه لوئې شان والا دې | پس زهٔ قسم خورم | په ځایونو د پرېوتلو | د ستورو.

نو تهٔ د خپل لوئې رب د نوم تسبیح لوله. نو زهٔ د ستورو په ډوبېدو قسم خورم.

وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿٧٦﴾ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٧﴾

او بیشکه دا | یو قسم دې | کهٔ چرې تاسو پوهیږئ | ډیر لوئې | چه بیشکه دا | قرآن | خاوند د لوئې شان دې

او کهٔ تاسو پوهیږئ نو دا ډیر لوئې قسم دې چه دا یو ډیر عزتمند قرآن دې.

فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿٧٩﴾ تَنْزِيْلٌ

په یو کتاب کښې | چه پټ دې | لاس نهٔ شي وروړې دهٔ ته | مګر | پاک شوی | رالیږلې شوې دې

چه په لوح محفوظ کښې (لیکلې شوې) دې چه د پاکانو نه سوا هیڅوک ورته ګوتې وروړلې نهٔ شي. دا (قرآن) د

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿٨١﴾

له طرفه د رب | د عالمونو | پس آیا په دې خبره | تاسو انکار کوونکي یئ

پروردګار عالم د طرف نه نازل کړې شوې دې. نو آیا اوس تاسو د دې کلام په منلو کښې سستیا کوئ؟

وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ

او جوړوئ تاسو | خپل رزق (برخه) | دا چه تاسو | دا دروغ ګڼئ | بیا ولې نه | هر کله چه | راورسیږي (روح)

او د دې دروغ ګڼلو ټول موخپل ځان له (ګټه) خوراکه چه جوړه کوئ. نو ځه وخت چه روح مرئ ته

الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ

حلق ته | او تاسو | هغه وخت | ګورئ | او مونږ | زیات نزدې یو | دې ته

راورسیږي . او په دغه وخت کښې تاسو ورته ګورئ او دغه کس ته مونږ تاسو نه

مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾

ستاسو په نسبت | لیکن | نه وینئ تاسو | نو ولې نه | که چیرې تاسو | د چا محکوم نه یئ.

زیات نزدې یو خو تاسو (مونږ) نه وینئ. نو که تاسو د چا په حکم نه یئ (نو) دغه (روح) پسته ولې

تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾ فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾

بیرته راګرځوئ دا | که چیرې تاسو | رښتینې یئ. | پس که چیرې وی هغه | په نزدیکانو خلقو کښې

نه راګرځوئ که تاسو (په خپله وینا کښې) رښتینې یئ، نو څوک چه په نزدیکانو خلقو کښې شمیرل وی.

فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾

نو آرام دے | او خوشبویه ګلونه | او باغ د نعمت دے | او که چیرې | هغه وی | د ښي لاس له خاوندانو نه

نو هغه له راحت د ګو خوراکونه دی. او د عیش باغونه دی او څوک چه د ښي اړخ خلق وی (نو هغه ته به وویلے شي چه)

فَسَلٰمٌ لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ

نو سلام دې وي | په تا باندې | د ښي لاس د خاوندانو له طرف نه | او که چیرې | هغه وی | له دروغ ګڼرونکو

ته په امن امان سره اوسیږه ځکه چه ته د ښي لاس خاوندې. او څوک چه دروغ ګڼرونکي ګمراهان

الضَّآلِّيْنَ ﴿۹۲﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۹۳﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿۹۴﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ

ګمراهانو نه | نو میلمستیا ده | له یشیدلو اوبو نه | او داخلیدل دي | دوزخ ته | بیشکه دا دے | هم هغه

وی. نو هغوئ ته به د یشیدلو اوبو میلمستیا ورکولے شي او په دوزخ کښې به ورننوځي بیشکه دا خبره

ع ۳ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿۹۵﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۹۶﴾

حق | د یقین قابل | پس ته پاکیزګي بیانوه | د نامه د رب خپل | چه لوئے شان خاوند دے

حقه ده. نو ته د خپل لوئے رب د نامے تسبیح لوله.

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سوره حدید په مکه کښې نازل شوې | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان دیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښې ۲۹ آیتونه او ۴ رکوع دي

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

پاکي بیانوي | د الله | کوم مخلوق چه دے | په آسمانونو کښې | او په زمکه کښې | او هغه | دیر غالب

د الله پاکي بیانوي څوک چه په آسمانونو او په زمکه کښې (استوګن) دي او هغه غالب دے

الْحَكِيمُ ① لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ يُحْيِ

دَ حکمت خاوند دے | دَ دۀ دہ | بادشاهي | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | دے ژوندی کوی

دَ حکمت خاوند دے. دَ آسمانونو او دَ زمکے بادشاهي يوازے دَ هغۀ ده . هم هغه دے چه ژوندي بخښي

وَيُمِيتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ② هُوَ الْأَوَّلُ

او مرۀ کوی | او دے | په هر څيز باندې | قدرت لرونکے دے | هم دے | اول

او هم هغه دے چه مرګ راولی او الله تعالیٰ په هر څيز باندې قادر دے، هم دے دے چه دَ ټولو نه اول

وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ③

او آخر | او ښکاره | او پټ دے | او دے | په هر څيز باندې | پوهه دے .

او دَ ټولو نه وروستو دے ښکاره هم هغه دے او پټ هم هغه دے ، او په هر څۀ ډير ښۀ پوهه دے .

هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ

هم دے دے | چا چه | پيدا کړل | آسمانونه | او زمکه | په شپږو | ورځو کښے

(الله) هاغه ذات دے چه آسمانونه او زمکه ئے په شپږو ورځو کښے پيدا کړل

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ

بيا | دے قائم شو | په عرش باندې | دے پوهه دے | په هغه څۀ | چه داخليږی | په زمکه کښے

بيا دَ بادشاهئ په تخت قائم شو . الله ته معلوم دی څۀ چه په زمکه کښے ورننوزی

وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ

او څۀ چه | اوځی | له دے نه | او څۀ چه | ښکته راځی | له آسمان نه | او څۀ چه | بره خيژی

او څۀ چه ترے نه راوُزی او څۀ چه دَ آسمان نه راکوزيږی او څۀ چه ورته

فِيهَا ۚ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا

په دے کښے | او دے | تاسو سره دے | کوم ځائے چه | تاسو يئ | او الله | هغه څۀ ته چه

خيژی ، او هغه د رسره مل وی هر ځائے کښے چه تاسو يئ او الله تعالیٰ ستاسو

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ④ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ

تاسو ئے کوئ | کوری | هم دَ دۀ دے | حکومت | دَ آسمانونو | او دَ زمکے

ټول کارونه وينی کوری . دَ آسمانونو او دَ زمکے بادشاهي يوازے دَ هغۀ ده ،

وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ⑤ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ

او هم دَ الله طرف ته | واپس ګرځولے شی | ټول کارونه | دے داخلوی | شپه | په ورځ کښے

او ټول معاملے به الله تعالیٰ ته پستنه ځی ، هغه شپه په ورځ کښے ننباسی

وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ⑥

او داخلوی | ورځ | په شپه کښے | او دے | پوهه دے | په رازونو | دَ سينو

او ورځ په شپه کښے ننباسی ، او هغه دَ زړونو په رازونو ښۀ پوهه دے .

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:۔ ڈاکٹر محمد دین

سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ مجادله په مدینه کښې نازل شوې ده | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښې ۲۲ آیتونه او ۳ رکوع دي

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَ تَشْتَكِيْٓ

بیشکه | واورېدله | الله | خبره | د هغې ښځې چه | جګړه ئې کوله تا سره | د خپل خاوند په حقله | او شکایت ئې کولو

بیشکه چه الله تعالیٰ د هغې ښځې خبره واورېدله چه د خپل خاوند په حقله ئې تا سره تکرار کولو او د الله تعالیٰ ته

اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ①

د الله ته | او الله | اورېدلے | ستاسو د دواړو خبرې | بیشکه الله | اورېدونکے | لیدونکے دے

ئې شکایت کولو او الله تعالیٰ ستاسو د دواړو خبرې اورېدې یقیناً الله تعالیٰ هر څه اورې هر څه ویني

اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ۭ

کوم خلق چه | ظهار کوي | له تاسو نه | د خپلو ښځو سره | نه دي | دوئ | میندې د دوي

په تاسو کښې څوک چه د خپلو ښځو سره ظهار کوي، نو هغه ښځې د دوئ (څه) میندې (خو) نه شي

اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓـِٔيْ وَلَدْنَهُمْ ۭ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا

نه دي میندې د دوئ | مګر | هغه چه | زیږولي ئې دي دوئ | او بیشکه دوئ | وائي | نا معقوله

میندې ئې خو ئې بس هغه دي چه دوئ ئې زیږولي دي او په دے کښې شک نشته چه دوئ یوه نامناسبه

مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ② وَالَّذِيْنَ

خبره | او دروغ | او بیشکه الله | معاف کوونکے | ډیر بخښونکے دے | او کوم خلق چه

او دروغ خبره کوي، او بیشکه الله تعالیٰ معاف کوونکے بخښونکے دے. او څوک چه

يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ

ظهار کوي | خپلو ښځو سره | بیا دوئ واپس شي | له هغه څه نه | چه دوئ ویلي دي | نو آزادول دي

د خپلو ښځو سره ظهار وکړي، بیا د خپلې خبرې نه واپس کیدل (یعنې تلاق کول) غواړي، نو هغه په ذمه

رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۭ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ۭ وَاللّٰهُ

یو غلام | وړاندې له دې نه چه | دوئ دواړه یو بل ته لاس یوسي | هم په دې خبره | تاسو ته نصیحت کولے شي | او الله

یو غلام آزادول دي، وړاندې له دې نه چه دواړه یو بل سره یوځائے شي داځکه دي چه تاسو له دې نه نصیحت واخلئ او الله

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ③ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ

په هغه څه | چه تاسو ئې کوئ | خبردار دے | نو څوک چه | بیا نه مومي (غلام) | نو روژے دي | د دوه میاشتو

ستاسو په کارونو ښه خبر دے. نو څوک چه غلام بیا نه مومي، نو دوه میاشتې روژے دي پرله پسې

مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۭ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ

پرله پسے | وړاندې له دې نه چه | دوئ دواړه یو بل ته لاس یوسي | نو څوک چه | دا هم ونه کړے شي | نو طعام ورکول دي

ونیسي. د دے نه وړاندې چه دواړه یو بل سره یوځائے شي او څوک چه دا هم نه شي کولے، نو شپیتو ته

سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ۭ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۭ وَتِلْكَ

شپیتو (٦٠) | مسکینانو ته | دا | ځکه چه تاسو ایمان راوړئ | په الله | او د ده په رسول باندې | او دا

مسکینانو له د خوراک ورکړې دا (حکم نه) ځکه (دی) چه تاسو په الله او د ده په رسول ایمان راوړئ او دا د الله

حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ④ اِنَّ الَّذِيْنَ

حدونه دی | د الله | او کافرانو د پاره | عذاب دے | دردناک | بیشکه | کوم خلق چه

مقرر حدونه دی ، او منکرانو له دردناک عذاب مقرر دے . څوک چه د الله او د ده د

يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ

مخالفت کوی | د الله | او د ده د رسول | دوی به ذلیله کړے شی | لکه چه ذلیله کړے شوی وو | هغه خلق چه

رسول (د حکم) نه مخالفت کوی ، هغوی به داسے خوار شی لکه مخوانی خلق چه خوار

مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ

له دوی نه وړاندې وو | او بیشکه نازل کړل موږ | آیتونه | واضحه | او کافرانو د پاره | عذاب دے

شوی وو او موږ خو څرګند آیتونه رالیږلی دی او منکرانو له سپکونکے عذاب

مُّهِيْنٌ ⑤ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۭ

رسوا کونکے | په کومه ورځ چه به | دوی راپاڅوی | الله | ټول | بیا به ووبنائی دوی ته | هغه څه | چه دوی به کول

مقرر دے . په کومه ورځ چه الله تعالیٰ دا ټول خلق (د قبرونو نه) راپورته کړی بیا څه چه به دوی کول هغه ټول به ورته وښائی

اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ⑥ ع

سنبال ساتلی دی دا الله | او دوی هیر کړی دی دا | او الله | په هر څیز باندې | ګواه دے .

د هغه کارونه الله خوسنبال ساتلی دی او د دوی نه هیر شوی دی ، او الله تعالیٰ په هر څیز باندې ښه خبر دے .

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ

آیا نه دی کتلی تا | چه بیشکه الله | پوهیږی | په هغه څه | چه په آسمانونو کښے دی | او په هغه څه چه | په زمکه کښے دی

آیا تا په دے خبره غور نه دے کړے چه الله تعالیٰ ته د آسمانونو او د زمکے هر څیز ښه معلوم دے؟

مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ

نه وی | پټه مشوره | د دریو کسانو | مګر دے (الله وی) | څلورم په دوی کښے | او نه د پنځو

په دریو کسانو کښے هیڅ د غوږ مجلس داسے نه کیږی چه څلورم یکښے الله نه وی او نه په پنځو کښے

اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ

مګر هغه (الله) وی | شپږم په دوی کښے | او نه کم | له دے نه | او نه زیات | مګر دے وی | د دوی سره

په کوم کښے چه شپږم الله نه وی او (د غه شان) نه د دے نه کم او نه د دے نه زیات لیکن هغه (الله) د دوی سره وی

اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ

کوم ځائے کښے | چه دوی وی | بیا به | دے وښائی دوی ته | څه چه | دوی کول | په ورځ | د قیامت

دوی په هر ځائے کښے چه وی ، بیا د قیامت په ورځ به خپل کارونه ورته وړاندې کیږی دی

إِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٧﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا

بیشکه الله | په هر څیز باندې | پوهه دے | آیا تا نه دی کتلي | هغه خلقو ته | چه منع کړے شوی وو

بیشکه چه الله تعالیٰ ته هر څه معلوم دی. آیا ته د هغه خلقو حال ته نه ګورے چه د ناجائزه پټو

عَنِ النَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ

د پټو مشورو نه | بیا دوئی راګرځي | هغه څه ته | چه منع کړے شوی وو | له هغې نه | او دوئی پټې مشورې کوي

مشورو نه منع کړے شوی وو، بیا د ګوے خبرے نه چه دوئی منع کړے شوی وو هم په هغې کار کښې لګیا دی او د

بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ ۚ وَإِذَا جَاءُوكَ

په ګناه | او سرکشئ | او د رسول د نافرمانئ (سره) | او هر کله | چه دوئی راځي تا ته

ګناه او د زیاتی کولو او د رسول ﷺ د نافرمانئ په حقله پټ پټ مجلسونه کوی او چه (اے نبی!) تا ته راځي نو

حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ وَيَقُولُونَ فِي أَنْفُسِهِمْ

نو سلام کوی تا ته | په داسے لفظونو سره | چه سلام نه دے کړے تا ته په هغې سره | الله | او دوئی وائي | په خپلو زړونو کښې

شي نو په داسے ټکو درباندې سلام اچوی چه الله درباندې هغے سلام اچولے نه دے او په خپلو زړونو کښې وائي

لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُولُ ۚ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۖ

چه ولے نه | راکوی عذاب مونږ ته الله | په هغه څه | چه مونږ یے وایو | کافی دے دوئی لره | دوزخ | دوئی به داخل شي دے ته

چه څه مونږ وایو الله تعالیٰ مونږ له د هغے سزا ولے نه راکوی دے خلقو له دوزخ بس دے، هغوئی به په کښے ورننوزي

فَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا

پس بد دے | ځائے د ورتلو | اے | ایمان والو! | هر کله چه تاسو یو بل سره پټې مشورې کوئ | نو پټې مشورې مه کوئ

او دغه ډیره خرابه ټیکاڼه ده. اے مؤمنانو! هر کله چه غوږین مجلس کوئ نو د ګناه د زیاتی او د

بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ

د ګناه | او سرکشئ | او د رسول د نافرمانئ | او پټې مشورې کوئ | د نیکئ | او پرهیزګارئ

رسول ﷺ د نافرمانئ په حقله هیڅ چرے مشورے مه کوئ بلکه د نیکئ او د پرهیزګارئ په حقله صلاح مشورې

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩﴾ إِنَّمَا النَّجْوَىٰ مِنَ الشَّيْطَانِ

او ویریږئ | د الله نه | هغه ذات | چه طرف د هغه ته به | تاسو جمع کولے شئ | بیشکه | پټې (د غوږین) صلاح مشورې | خو د شیطان کار دے

کوئ او د الله تعالیٰ نه ویریږئ چه تاسو ټول به ورته راټولیږئ. غوږین صلاح مشورې د شیطان په لمسه کیږی

لِيَحْزُنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ شَيْئًا إِلَّا

چه غمژن کړی | هغه خلق چه | ایمان ئے راوړے دے | او نه دے | هغه دوئی ته نقصان ورکونکے | د هیڅ څیز | مګر

چه مؤمنان پرے غمژن کړی، حال دا دے چه د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر شیطان هغوئی ته هیڅ ضرر نه

بِإِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

په حکم د الله | او هم په الله باندې | پکار دے چه توکل وکړی | مؤمنان | اے | ایمان والو!

شی رسولے او ایمان والو له خو بس هم په الله تعالیٰ توکل کول پکار دی اے مؤمنانو!

إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ

هر کله چه | ووییلے شي | تاسو ته | چه کشاده کښینئ تاسو | په مجلسونو کښے | پس کشاده کوئ ځائے | فراخي به پیدا کړي | الله

هر کله چه درته ووییلے شي چه په مجلس کښے لږ ځائے ارت کړئ نو تاسو ځائے ارت کړئ الله تعالیٰ به تاسو له ارتیرت

لَكُمْ ۚ وَإِذَا قِيلَ انشُزُوا فَانشُزُوا يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا

تاسو له | او هر کله چه ووییلے شي | چه پاځئ | پس پاځئ | اوچت به کړي | الله | د هغه خلقو چه | ایمان ئے راوړے دے

ځائے درکړي او چه درته ووییلے شي چه پاځئ ودریږئ نو پاځئ ، الله تعالیٰ به په تاسو کښے د مسلمانانو

مِنكُمْ ۙ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ

له تاسو نه | او د هغه خلقو | چه ورکړے شوے دے | علم | درجے | او الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ

او د علم د خاوندانو مرتبے اوچتے کړي . او الله تعالیٰ ستاسو په کارونو ښه

خَبِيرٌ ﴿١١﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا

خبردار دے | اے ایمان والو! | هر کله چه | پټه مشوره کوئ تاسو | رسول سره | نو وړومبے ورکړئ تاسو

خبر دے اے مؤمنانو ! تاسو چه د پیغمبر سره پټه صلاح مشورے کوئ نو د خپلو پټو صلاح

بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ

وړاندے | د خپلے مشورے نه | صدقه | دا کار | غوره دے | تاسو د پاره | او | زیات پاکیزه دے

مشورو نه وړاندے څه (لږ ډیر) خیرات ورکوئ ، دا کار تاسو د پاره ډیر بهتر دے او د پاکئ ذریعه ده

فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ أَأَشْفَقْتُمْ

پس که چرے بیا نه مومئ تاسو | نو بیشکه | الله | ډیر بخښونکے | مهربان دے | آیا تاسو ووېرېدئ

خو که د خیرات توفیق نه لرئ نو بیشکه چه الله تعالیٰ بخښونکے رحم کوونکے دے آیا تاسو د دے نه ویریږئ

أَن تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ ۚ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا

(له دے نه) چه تاسو وړومبے ورکړئ | وړاندے | د مشورے خپلے نه | صدقے ؟ | بیا هر کله چه | تاسو دا ونه کړل

چه د خپلو پټو مشورو نه وړاندے څه لږ ډیر خیرات ورکړئ ؟ نو (خیر دے) چه دا کار درنه پوره نه شو

وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ

او معاف وکړه | الله | تاسو ته | نو قائم کړئ | مونځ | او ورکړئ | زکوٰة

او الله تعالیٰ تاسو ته معاف وکړه نو (اوس) د مونځ پابند وسیږئ او زکوٰة ورکوئ

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٣﴾ ع ٢

او حکم منئ | د الله | او د هغه د رسول | او الله | خبردار دے | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ .

او د الله تعالیٰ او د هغه د رسول هره خبره منئ ، او الله تعالیٰ ته ستاسو ټول کارونه معلوم دی .

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِم

آیا تا نه دی کتلی | هغه خلقو ته چه | دوستي کوي | د دغسے قوم سره | چه غضب کړے دے الله | په هغوی باندے

(اے پیغمبره!) آیا تا هغه خلقو ته نه دی کتلی چه د داسے قوم سره دوستي لري په کوم چه د الله تعالیٰ غضب نازل شوے دے

مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ

نهٔ (خو) دوئ | له تاسو ځنې دي | او نهٔ له هغوئ نه | او دوئ قسم خوري | په دروغو

دا (منافقان) نهٔ تاسو سره دي او نهٔ د هغوئ (کافرانو) سره دي ، او سره د پوهې په دروغو قسمونه

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۭ اِنَّهُمْ

او دوئ پوهيږي | تيار کړے دے | الله | دوئ د پاره | عذاب | سخت | بيشکه

خوري . الله تعالىٰ هغوئ د پاره سخت عذاب تيار کړے دے ، بيشکه هغه

سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

بد دي | هغه څهٔ چه دوئ ئې | کوي | جوړ کړي دي دوئ | قسمونه خپل | ډال

کارونه ډير خراب دي چه هغوئ ئې کوي . دوئ د خپلو قسمونو نه ځان له ډال جوړ کړے دے

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۶﴾

پس منع کوي دوئ (خلق) | د لارې نه | د الله | نو دوئ د پاره | عذاب دے | رُسوا کوونکے

بيا خلق د الله تعالىٰ د لارې نه منع کوي پس هغوئ د پاره د ذلت عذاب مقرر دے .

لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۭ

هيڅ کله به په کار رانهٔ شي | د دوئ | مالونه د دوئ | او نهٔ | اولاد د دوئ | د الله په وړاندې | هيڅ هم

د هغوئ مال او د هغوئ اولاد هغوئ هيڅ د الله تعالىٰ (د عذاب) نه بچ کولے نهٔ شي

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۭ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ

هم دا خلق دي | دوزخيان | دوئ به | په دے کښې | هميشه دي | په کومه ورځ چه به | را پاڅوي دوئ

هم دغه خلق دوزخيان دي تل به پکښې (دوزخ) پراتهٔ وي ، په کومه ورځ چه الله تعالىٰ دوئ

اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ

الله | ټول | نو دوئ به قسمونه خوري | د ده په وړاندې | لکه چه | دوئ به قسمونه خوري | ستاسو په وړاندې

ټول بيا را ژوندي کړي نو د الله د وړاندې به داسې قسمونه خوري لکه څنګه چه (نن) ستاسو په وړاندې خوري

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰي شَيْءٍ ۭ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾

او دوئ خيال کوي | چه دوئ | په (څهٔ) فائده کښې دي | واوره ! | بيشکه | هم دوئ | دروغژن دي

او دا خيال کوي چه ګني د دوئ څهٔ دين ايمان شته ؟ ښه واوره ! چه دوئ بالکل دروغژن دي

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ۭ اُولٰٓئِكَ

غالب راغلے دے | په دوئ باندې | شيطان | پس د ده هير کړو له دوئ نه | ذکر د الله | هم دا دي

(خبره دا ده چه) په دوئ باندې شيطان قابو موندلے دے نو د الله تعالىٰ ياد ئې ترې نه هير کړے دے ، هم دغه

حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ۭ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ اِنَّ

ډله | د شيطان | واوره ! | بيشکه | ډله | د شيطان | هم دوئ دي نقصان موندونکي | بيشکه

د شيطان ټولګے دے او په دے پوهه شه چه د شيطان ټولګے به په تاوان کښې پاتے وي ، څوک

اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗۤ اُولٰٓئِكَ فِي الْاَذَلِّيْنَ ۝٢٠
کوم خلق چه | مخالفت کوی | دَ الله | او دَ دهٔ دَرسول | هم داخلق دی | په ډیر زیات ذلیله خلقو کښې
چه دَ الله تعالیٰ او دَ دهٔ دَ رسول مخالفت کوی نو هم دغه غورزیدلی خلق دی.

كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝٢١
ولیکل | الله | چه خامخا به غالب شم زهٔ | او زما رسول | بیشکه الله | ډیر زورآور | غالب دے
الله تعالیٰ دا لیکلی دی چه زهٔ او زما رسول به غالب پاتے یُو، بیشکه الله تعالیٰ دَ قوت خاوند دے ډیر غالب دے

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ
تهٔ به بیا نهٔ موے | یو قوم چه | ایمان لری | په الله | او په ورځ | دَ اخرت | چه دوستی به وکړی
تهٔ به هیچرے دا ونهٔ مومے چه څوک په خدائے او په رسول باندې ایمان لاوړی هغوئی دِ داسے خلقو سره

مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْۤا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ
دَ هغه چا سره چه مخالفت کوی | دَ الله | او دَ دهٔ دَ رسول | اگرچه | دی هغوئی | پلاران دَ دوئی | او ځامن دَ دوئی
دوستانه وساتی چه دَ الله او دَ رسول مخالف وی اگرکهٔ هغوئی ئے پلاران، یا ځامن یا ورونړه

اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ
یا | ورونړه دَ دوئی | یا خپلوان دَ دوئی | هم دا خلق دی | چه لیکلے دے (الله) | په زړونو دَ دوئی کښې
یا دَ کورنئی نور خلق وی - هم دغه کسان دی چه الله تعالیٰ دَ هغوئی په زړونو کښې (دَ) ایمان

الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ
ایمان | او دَ دوئی مدد ئے وکړو | په یو روح سره | له خپل طرف نه | او دے به داخل کړی دوی | په باغونو کښې
(لوں) بنخ کړے دے او هغوئی ئے په خپله مهربانئ مضبوط کړی دی او داسے باغونو ته به ئے ننباسی

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ
چه بهیږی به | لاندې دَ هغې نه | ویالے | همیشه به وی | په هغې کښې | الله راضی شو | له دوئی نه
چه دَ هغې لاندې به ویالے بهیږی، تل به پکښې استوګن وی الله تعالیٰ به دَ هغوئی نه راضی وی

وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝٢٢
او دوئی راضی شول | له دهٔ نه | هم دا ده | ډله دَ الله | واوره! | بیشکه ډله دَ الله | هم دوی دی خلاصے موندونکی
او هغوئی به دَ الله تعالیٰ نه راضی وی، هم دغه دَ الله تعالیٰ توګے دے او بنهٔ واوره! چه دَ الله تعالیٰ توګے همیشه کامیاب دے.

سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ
سورة حشر په مدینه کښې نازل شوی او | (شروع) په نامه دَ الله چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښې ۲۴ ایتونه او درے رکوع دی
دَ الله په نامه شروع کوم چه بے حد مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ
پاکی بیانوی دَ الله | هغه څیزونه | چه په آسمانونو کښې | او هغه | چه په زمکه کښې دی | او هم دے | غالب
دَ الله تعالیٰ پاکی بیانوی هر څهٔ چه په آسمانونو او په زمکه کښې دی او هغه ډیر زورآور دَ حکمتونو

وقف النبی صلی اللہ علیہ وسلم

الْحَكِيمُ ۝١ هُوَ الَّذِىٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

دَحکمت خاوند دے | دے دے هغه ذات چه | راوے ویستل | هغه کسان | چه کافران شو | له اهـل کتابو نه

خاوند دے۔ الله تعالیٰ هغه ذات دے چه کتابیان کافران ئے په وړومبی ځل په

مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ۘ مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا

دَدوی له کورونو نه | دَوړومبی حشر په وخت | تاسو ګمان نهٔ کولو | چه راوبه ځی دوی | او دوی خیال کولو

جمع دَ کورونو نه وویستل ۔ستاسو (خو) داګمان (قدرله) نهٔ وو چه دوی به وُځی او دَهغوی

اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ

چه دوی به | بچ کری | دَدوی قلعے | دَ الله نه | پس راغے دوی ته (عذاب) دَالله | کوم ځائے نه

داګمان وو چه خپلے قلعه ګانے به ئے دَالله دَنیولو نه بچ اُوساتی نو (دَ) الله (عذاب) پرے دَداسے ځایه نه

لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۗ وَقَذَفَ فِىْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ

چه دَدوی ګمان هم نهٔ وو | او دهٔ واچولو | په زړونو دَدوی کښے | رُعب | دوی نړول

راغے چه دَدوی په خواخاطر کښے هم نهٔ وو او دَهغوی په زړونو کښے ئے رعب واچولو چه خپل کورونه ئے په

بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِى الْمُؤْمِنِيْنَ ۗ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِى الْاَبْصَارِ ۝٢

کورونه خپل | په لاسونو خپلو | او په لاسونو | دَمؤمنانو | پس عبرت حاصل کړئ | اے خاوندانو دَسترګو!

خپلو لاسونو هم نړول او دَمسلمانانو په لاسونو هم (نړیدل) نو اے دَسترګو خاوندانو! دَدے نه سبق واخلئ

وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ

او که چرته نه وے (داخبره) | چه لیکلی وُو | الله | په دوی باندے | کوره کیدل | نو خامخا به ئے عذاب ورکړے وو دوی ته

او که الله دَهغوی په حق کښے جلاوطنی لیکلے نهٔ وے نو په دُنیا کښے به ئے (دَ قتل) سزا

فِى الدُّنْيَا ۗ وَلَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ۝٣ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

په دُنیا | او دوی دَپاره | په آخرت کښے | عذاب | دَاور دے | دا | ځکه چه دوی

ورکوله او په آخرت کښے خو ورله دَ اور سزا هسے هم مقرر ده دا ځکه چه دوی دَ الله

شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝٤

مخالفت وکړو | دَالله | او دَدهٔ دَرسول | او څوک چه مخالفت کوی | دَ الله | نو بیشکه | الله | سخت عذاب ورکوونکے دے

او دَ رسول مخالفت کړے دے ، او څوک چه دَالله تعالیٰ مخالفت کوی نو الله تعالیٰ په سزا ورکولو کښے ډیر سخت دے

مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا

هغه څه چه | پریکړے تاسو | دَ قجورے اُونے | یا تاسو پریښودے هغه | ولاړے | په خپلو جرړو باندے

تاسو چه دَ قجورے کومے اُونے پریکړے یا مو په جرړو باندے مضبوطے ولاړے ګوښاتلے نو

فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِىَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٥ وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ

نو (هغه وو) دَالله په حکم | چه هغه رسوا کړی | بدکاران | او هغه څه چه | راوګرځول | الله

دا دَالله په حکم وو او (ځکه وو) چه (الله) نافرمانه خلق رسوا کړی او الله تعالیٰ چه خپل رسول ته څهٔ (بغیر دَجنګ

عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ

پیغمبر خپل ته | له دوئ نه | چه نۀ دی زغلولی تاسو | په هغې باندې | اسونه | او نۀ اوښان

نه) دَ دوئ (یهودو) نه راؤگرځول ، نو په هغې باندې تاسو خپل اسونه یا اُوښان نۀ دی زغلولی

وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

او لیکن | الله | غالب کوی | خپل پیغمبران | په چا چه | دے وغواړی | او الله

خو الله چه په چا غواړی نو خپل پیغمبران پرے غالب راولی ۔ او الله تعالیٰ

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ۝ ۶ مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

په هر څیز باندې | قادر دے | هغه څۀ چه راؤگرځول | الله | په پیغمبر خپل

په هر څیز باندې پوره پوره قدرت لری ، الله تعالیٰ چه خپل پیغمبر ته دَ نورو کلو دَ خلقو نه کوم مال دَ

مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى

له (مالونو) دَ اوسیدونکو دَ کلو نه | نو هغه دَ الله | او دَ رسول ﷺ | او دَ خپلوانو | او دَ یتیمانو

فئ ورکړے دے ، نو هغه دَ الله تعالیٰ ، دَ رسول او دَ هغهٔ دَ خپلوانو ، او دَ یتیمانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَیْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ

او دَ مسکینانو | او دَ مسافرو دَ پاره دی | چه هغه نۀ وی | گردش کوونکی | په مینځ | دَ دولت مندو کښې

او دَ مسکینانو او دَ مسافرو حق دے چه دغه فئ ستاسو دَ مالدارو په قبضه کښې

مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ

له تاسو نه | او څۀ چه | تاسوله درکړی | رسول ﷺ | نو واخلئ هغه | او هغه څۀ | چه منع کړی تاسو

رانۀ شی او رسول ﷺ چه تاسوله څۀ درکوی هغه واخلئ ، او چه دَ څۀ نه ئے منع کړی یئ

عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ ۷ وقف لازم

له هغې نه | پس منع شئ تاسو | او ویریږئ | دَ الله نه | بیشکه | الله | سخت عذاب ورکوونکے دے .

دَ هغې نه منع شئ . او دَ الله تعالیٰ نه ویره کوئ ، بیشکه چه الله تعالیٰ په سزا ورکولو کښې ډیر سخت دے

لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ

دَ پاره دَ فقیرانو | مهاجرینو | کوم چه | وِیستلے شوی دی | له کورونو خپلو نه | او مالونو خپلو نه

دَ هغې حاجتمندو مهاجرینو (دَ نورو نه زیات) حق دے چه دَ خپلو کورونو او دَ مالونو نه راوِیستلے شوی دی .

يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ

چه غواړی | فضل | دَ الله | او رضامندی | او مدد کوی | دَ الله | او دَ دهٔ دَ رسول

دَ الله تعالیٰ فضل او دَ هغهٔ رضا غواړی او دَ الله تعالیٰ (دَ دین) او دَ دهٔ دَ رسول امداد کوی

اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝ ۸ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ

هم دا خلق دی | رښتینی (مسلمانان) | او هغه کسانو دَ پاره | چه قائم پاتے شو | په کور کښې | او په ایمان باندې

هم دغه خلق رښتینی (مسلمانان) دی ۔ او دا مال) دَ هغه خلقو (هم حق دے) چه (دَ هجرت والا دَ) کور (مدینه) کښې دَ وړاندې

مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ

وړاندې له دوی نه | دوی محبت کوي | د هغه چا سره | چه هجرت کوي | د دوی سره | او نه بیا مومي

نه ديره (انصار) دي او په ايمان کښې (ثابت قدم) دي او د هغې خلقو سره مينه لري چه هغوی ښار ته هجرت کوي او په خپلو زړونو کښې

فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ

په خپلو سينو کښې | څه تنګي | له هغه څه نه | چه ورکړے شي دوی ته | او دوی غوره کوي نور

هيڅ تنګي نه ساتي په هغه څيز چه ورته ورکړے شي او نور د ځان نه

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۫ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ

په خپلو ځانونو باندې | اګر چه وي | په دوی باندې | ولږه | او څوک چه | وساتلے شو | له حرص

وړاندې کوي اګر که په خپله اوږے وي او څوک چه د خپل نفس د شومتيانه

نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۹ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

د نفس خپل نه | پس دغه خلق هم دوی دي | خلاصے مونده نکي | او کوم خلق چه | راغلل | پس له دوی نه

بچ وساتلے شو نو هم دغه خو کامياب خلق دي. او د هغه چا (په کښې حق دے) چه د دوی نه پس راشي

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا

دوی وائي | اے زمونږ ربه! | وبخښه مونږه | او | ورونړه زمونږ | کوم چه | وړاندې شوي دي له مونږه

او دا دعا کوي چه اے زمونږ ربه! مونږ وبخښه او زمونږ هغه ورونړه چه زمونږ نه وړاندې مسلمانان

بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

په ايمان راوړو کښې | او مه پيدا کوه | زمونږ په زړونو کښې | کينه | هغه کسانو د پاره | چه ايمان ئے راوړے

شوي دي ، او زمونږ په زړونو کښې د ايماندارو د پاره هيڅ کينه مه پيدا کوه

رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۱۰ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ

اے زمونږ ربه! | بيشکه ته | ډير مهربان | رحم کوونکے يې | آيا نه دي کتلي تا | هغه کسانو ته چه

اے زمونږه ربه! بيشکه ته مهربان رحم کوونکے يې . آيا تا هغه خلقو ته نه دي کتلي چه

نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

منافقت ئے وکړو | چه دوی وائي | خپلو هغه ورونړو ته | کوم چه | کافران دي | له اهل کتابو نه

منافقان دي هغوی له اهل کتابو نه خپلو کافرانو ورونړو ته وائي که چرے

لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ

که چرے | و ويستلے شوئ تاسو | نو مونږ به هم اوځو | تاسو سره | او مونږ به نه منو | ستاسو په باره کښې

تاسو (د مديني نه) و ويستلے شوئ نو مونږ به هم تاسو سره اوځو او ستاسو په معامله کښې به هيچرے د هيچا

اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ

د چا | هميشه | او که چرے | تاسو سره جنګ وشو | نو مونږ به ستاسو مدد کوو | او الله | ګواهي ورکوي

خبره نه اورو ، او که تاسو سره جنګ کيږي نو خامخا به ستاسو امداد کوو او الله په دے ګواه دے

إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنْ أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِن

چه بیشکه دوی | دروغژن دی | که چرے | دوی ؤویستلے شی | نو دوی به ونه ځی | دَ دوی سره | اوکه چرے

چه دوی دروغ وائی۔ که چرے کتابیان ؤویستلے شول نو دوی به ورسره ونه ځی اوکه چرے

قُوتِلُوا لَا يَنصُرُونَهُمْ وَلَئِن نَّصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْأَدْبَارَ

دوی سره جنګ ؤشی | نو دوی به دَ هغوی مدد ونه کړی | اوکه چرے | دَ هغوی مدد ؤکړی | نو خامخا به دوی وګرځوی | شاګانے

هغوی سره جنګ ؤشو نو دوی به ئے مدد نه کوی او که چرے مدد ئے ؤکړو نو په شا به ؤتښتی

ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾ لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِم مِّنَ اللَّهِ

بیا به | دوی له مدد نه شی ورکولے | البته ستاسو خوف زیات دے | دَ دوی په سینو (زړونو) کښے | له خدائے نه

او بیا به دَ دوی امداد نه کیږی۔ (مسلمانانو!) بیشکه دَ دوی په زړونو کښے دَ الله نه هم زیات ستاسو ویره پرته ده

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا

دا | ځکه چه دوی | داسے قوم دے | چه نه پوهیږی | دوی به جنګ ونه کړی تاسو سره | ټول | مګر

دا ځکه چه دوی داسے خلق دی چه دَ پوهے نه کار نه اخلی۔ دوی که ټول راجمع شی نو هم تاسو سره جنګ کولے نه شی

فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَاءِ جُدُرٍ بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ

په کلو کښے | چه قلابند شوی وی | یا | وروستو | له دیوالونو نه | جنګ دَ دوی | په خپل مینځ کښے

خو په داسے کلو کښے چه ترے نه چاپیره دیوال وی یا دَ دیوالونو شا ته ، دَ دوی جنګ په خپل مینځ

شَدِيدٌ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ذَٰلِكَ

ډیر سخت دے | ګمان کوے ته په دوی باندے | دَ یو ځائے والی | او | زړونه دَ دوی | جدا جدا دی | دا

کښے ډیر سخت وی ستا پرے دا ګمان دے چه ګنی دوی یو ځائے دی، حالانکه دَ دوی زړونه بیل بیل دی ، دا

بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا

ځکه چه دوی | داسے قوم دے | چه نه پوهیږی | په شان دَ حال | دَ هغه کسانو چه | چه وړاندے له دوی نه وو | هم نزدے

ځکه چه دا خلق دَ عقل نه کار نه اخلی ۔ دَ دوی مثال دَ هغه خلقو دے چه پخوا ترے نه تیر شوی دی، هغوی

ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ

دوی ؤڅکلو | وبال | دَ کار خپل | او دوی دَ پاره | عذاب | دردناک دے | په شان دَ حال

دَ خپلو کارونو خوند څکلے دے او په دردناک عذاب اخته دی۔ دَ دوی مثال دَ

الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي

دَ شیطان دے | هر کله چه ده ووئیل | انسان ته | چه کافر شه | پس هر کله چه | کافر شو | نو ده ووئیل | بیشکه زه

شیطان دے، چه انسان ته وائی چه کافر شه نو چه هغه کافر شی نو بیا ورته وائی چه زه

بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ

بیزاره یم | له تا نه | بیشکه زه | ویریږم | دَ الله نه | چه رب دے | دَ ټولو جهانونو | پس شی

ستا نه بری یم ۔ زه خو دَ الله تعالیٰ نه ویریږم چه دَ ټول مخلوق رب دے۔ نو دَ دواړو د

عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ

انجام دَدے دواړو | داچه دا دواړه به | په اور کښے وی | دوئی به همیشه وی | په دے کښے | او هم داده

انجام دا شو چه دواړه (دَ دوزخ) اور ته ارتاؤ کړے شو چه تل به پکښے (لوغړن) پراته وی، او دَ ظالمانو

جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ۝١٧ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ

سزا | دَ ظالمانو | اے | مؤمنانو ! | ویره کوئ | دَ الله | او پکار ده چه وګوری

سزا هم دغه مقرر ده اے مؤمنانو ! دَ الله تعالیٰ نه ویره ساتئ او هر څوک دِ دا

نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ

انسان | چه څهٔ | وړاندِ لیږلی دی دهٔ | صبا دَ پاره | او اُو یریږئ | دَ الله نه | بیشکه الله | خبردار دے

وګوری چه دَ صبا دَ پاره ئے څهٔ لیږلی دی ؟ او دَ الله نه ویره لرئ ، هغه ستاسو دَ کارونو نه

بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١٨ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ

په هغه څهٔ | چه تاسو ئے کوئ | او مهٔ کیږئ تاسو | په شان دَ هغه کسانو | چه هیر کړو | الله | نو دهٔ هیر کړل دوئ

پوره پوره خبر دے . او دَ هغه چا په شان مهٔ کیږئ چه الله ئے هیر کړو نو الله تعالیٰ ترے نه

اَنْفُسَهُمْ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝١٩ لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ

دَ دوئ ځانونه | هم دا خلق دی | نافرمانه | برابر نهٔ دی | دوزخیان

خپل ځانونه هیر کړل هم دغه خو نافرمانه (بد عمل) خلق دی. دوزخیان او جنتیان هیڅکله برابر

وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۭ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ ۝٢٠ لَوْ اَنْزَلْنَا

او جنتیان | جنتیان | هم دوی دی | کامیاب | کهٔ چرے نازل کړے وَمُونږ

نهٔ دی . هم جنتیان کامیاب خلق دی . کهٔ مونږ دا قرآن

هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰي جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ

دا قرآن | په یو غر باندِ | نو خامخا به تا لیدلے وو دا | عاجزی کونکے | ټوټے ټوټے کیدونکے | له ویرے نه

په یو غر باندِ نازل کړے وے نو تا به لیدلے وو چه دَ الله تعالیٰ دَ ویرے نه به فرمان منونکے او چاودلے

اللّٰهِ ۭ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ۝٢١

دَ الله | او دا | مثالونه | مونږ بیانوُو دا | خلقو دَ پاره | دَ پاره دَ دے چه دوئ | فکرو کړی

وو ، او دا مثالونه مونږ دَ هغه خلقو دَ پاره بیانوُو چه هغوئ دَ غور او فکر نه کار واخلی

هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ

هم دے الله | هغه چه | نشته دے هیڅوک معبود | سوا دَ دهٔ نه | پوهه دے | په پټو | او ښکاره څیزونو | هم دے

الله تعالیٰ خو هم هغه دے چه دَ هغهٔ نه سوا بل معبود نشته ، دَ پټ او دَ ښکاره هر څهٔ نه خبر دے ، هغه ډیر

الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ۝٢٢ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ

بخښونکے | مهربان | هم دے الله | هغه چه | نشته دے هیڅوک معبود | سوا دَ دهٔ نه | دے بادشاه دے

مهربان بیا بیا رحم کونکے دے . الله تعالیٰ خو هم هغه دے چه دَ هغهٔ نه سوا بل معبود نشته ، بادشاه دے

الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ط

ډیر پاک | سالم د ټولو عیبونو نه | امن ورکوونکے | ساتندوېنکے | غالب | ډیر زبردست | لوئے دے

پاک دے، هر عیب نه محفوظ، امن ورکوونکے دے، حفاظت کوونکے دے، زبردست دے، د خرابئ درستوونکے دے، ډیر لوئے دے

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٢٣﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ

پاک دے | الله | له هغه څه نه چه دوی ئے شریکوی | هم دے دے الله | پیدا کوونکے | نوے پنکاره کوونکے

الله تعالیٰ د دوی د شرک نه بالکل پاک دے. هم الله تعالیٰ پیدا کوونکے درست جوړوونکے

الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ط يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ

صورت جوړوونکے | هم د ده دی نامے | ښائسته | تسبیح کوی | د ده څه چه | په آسمانونو کښے

صورت جوړوونکے دے، د هغه ښکلی ښکلی نومونه دی، په آسمانونو او په زمکه کښے هر څه د هغه

وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٤﴾ ع

او زمکه کښے دی | او هم دے دے | غالب | د حکمت خاوند

پاکی بیانوی او هغه زبردست، د حکمت خاوند دے.

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِىَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَلٰثَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة الممتحنه په مدینه کښے نازل شوه | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ۱۳ آیتونه او ۲ رکوع دی

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان او د ډیر زیات رحم خاوند دے

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّىْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ

اے | ایمان والو! | مه نیسئ تاسو | زما دښمنان | او خپل دښمنان | دوستان

اے مؤمنانو! زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه جوړوئ

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ

ورلیږئ تاسو | د دوی طرف ته | (پیغام د) محبت | او بیشکه دوی کافران شوی دی | په هغه څه | چه راغلی دی تاسو ته

تاسو هغوی ته د دوستئ (او محبت) پیغام لیږئ، حال دا دے چه هغوی د دے دین منکران دی کوم چه تاسو

مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا

له حق دین نه | دوی جلاوطن کوی | پیغمبر | او خپله تاسو هم | (د دے) چه | تاسو ایمان راوړئ

ته راغلے دے، هغوی خو (ستاسو) رسول او تاسو (ستاسو د وطن نه) وباسی، صرف په دے خبره چه تاسو

بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ط اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِىْ سَبِيْلِىْ

په الله | چه ستاسو رب دے | که چیرے | تاسو وځئ | جهاد د پاره | زما په لار کښے

په الله باندې چه ستاسو رب دے ایمان راوړئ، که تاسو زما په لار کښے د جهاد د پاره او زما د مرضئ موندلو

وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِىْ ق صلے تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ق صلے وَاَنَا اَعْلَمُ

او د پاره د لټولو | د رضامندئ زما | تاسو پټ (ورلیږئ) | د دوی طرف ته | (پیغام د) دوستئ | او زه ښه پوهیږم

په غرض راوتلی یئ تاسو ورسره پټه پټه مینه ساتئ - او ما ته په ښه شان معلوم دی

بِمَآ اَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ اَعۡلَنۡتُمۡ ؕ وَمَنۡ يَّفۡعَلۡهُ مِنۡكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ

په هغه څه | چه تاسو يې پټوئ | او په هغه څه | چه تاسو يې ښکاره کوئ | او څوک چه | وکړي دا ئې | له تاسو نه | نو بېشکه هغه ګمراه شو

څه چه تاسو پټوئ او څه چه ښکاره کوئ او څوک چه (د بيا دپاره) دا ئې وکړي ، نو هغه د سمې

سَوَآءَ السَّبِيۡلِ ① اِنۡ يَّثۡقَفُوۡكُمۡ يَكُوۡنُوۡا لَكُمۡ اَعۡدَآءً وَّيَبۡسُطُوۡٓا

د نيغ | لار ے نه | که چرته دوئي بيا مومي تاسو | نو دوئي به شي | ستاسو | دښمنان | او را اوږده به کړي

لارے نه بے لارے شو که د هغوئي د ر بانډي لاس بر شي نو ستاسو دښمنان به وي او خپل لاسونه او

اِلَيۡكُمۡ اَيۡدِيَهُمۡ وَاَلۡسِنَتَهُمۡ بِالسُّوۡٓءِ وَوَدُّوۡا لَوۡ تَكۡفُرُوۡنَ ؕ ②

ستاسو طرفته | خپل لاسونه | او خپلے ژبے | په بدئ سره | او دوئي خوښوي | کاش! | چه تاسو کافران شئ.

خپلے ژبے به درته په بدئ بانډي را اوږدے کړي او هغوئي خو دا غواړي چه تاسو کافران شئ.

لَنۡ تَنۡفَعَكُمۡ اَرۡحَامُكُمۡ وَلَاۤ اَوۡلَادُكُمۡ ۚ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ۚ يَفۡصِلُ

هيڅکله به نفع درنه کړي تاته | خپلوان ستاسو | او نه اولاد ستاسو | په ورځ | د قيامت | دے به فيصله وکړي

خپل خپلوان او اولاد به مو هيڅ په کار را نه شي د قيامت په ورځ . الله تعالیٰ به

بَيۡنَكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ③ قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ

ستاسو په مينځ کښے | او الله | هغه څه ته | چه تاسو يې کوئ | ګوري | بېشکه | ده | تاسو دپاره

ستاسو تر مينځه فيصله کوي او الله تعالیٰ ستاسو کارونه وينې ګوري (او) تاسو دپاره خو د ابراهيمؑ او

اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ فِىۡۤ اِبۡرٰهِيۡمَ وَالَّذِيۡنَ مَعَهٗ ۚ اِذۡ قَالُوۡا

نمونه | ښه | په ابراهيم کښے | او په هغه خلقو کښے | چه ورسره وو | هر کله چه | دوئي دو ئيل

د دوئي د ملګرو په (ژوند) کښے يوه اعلیٰ نمونه (موجود) ده . څه وخت چه هغوئي خپل قوم ته

لِقَوۡمِهِمۡ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنۡكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؗ

خپل قوم ته | چه بېشکه مونږ | بيزاره يو | له تاسو نه | او له هغه څه نه | چه تاسو يې عبادت کوئ | سوا | د الله نه

وو ئيل چه مونږ له تاسو نه لاس په سر يو او د هغه معبودانو نه چه تاسو د الله نه سوا مقرر کړي دي

كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ الۡعَدَاوَةُ وَالۡبَغۡضَآءُ اَبَدًا

مونږ انکار وکړو | ستاسو | او ښکاره شو | زمونږ او ستاسو تر مينځه | دښمني | او بغض | هميشه

مونږ تاسو نه منکر يو او زمونږ او ستاسو تر مينځه د هميشه دپاره دښمني او بغض ښکاره شوے دے

حَتّٰى تُؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَحۡدَهٗۤ اِلَّا قَوۡلَ اِبۡرٰهِيۡمَ لِاَبِيۡهِ لَاَسۡتَغۡفِرَنَّ

تر دے چه | تاسو ايمان راوړئ | په الله | چه يو دے | مګر | وينا | د ابراهيمؑ | خپل پلار ته | چه زه به بخښنه غواړم

ترڅو چه تاسو په يو الله بانډي ايمان رانه وړئ، مګر دا چه ابراهيمؑ خپل پلار ته دا و ئيل وو چه زه ستا په

لَكَ وَمَاۤ اَمۡلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنۡ شَىۡءٍ ؕ رَبَّنَا

ستا د پاره | او زه اختيار نه لرم | د پاره ستا | له الله نه | د هيڅ څيز | اے زمونږ ربه!

حقله د بخښے دعا غواړم او زما د الله تعالیٰ په وړاندې هيڅ اختيار نشته اے زمونږ ربه!

عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٤﴾

په تا باندې | موږ توکل وکړو | او هم ستا طرف ته | موږ رجوع وکړه | او هم ستا طرف ته | واپس درتلل دي

موږ په تا باندې توکل کوو او موږ هم ستا طرف ته رجوع کوو او هم ستا طرف ته بېرته تګ دے

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا

ای زموږ ربه | مه جوړوه موږ | فتنې ځای (د ازمایښت) | د هغه کسانو | چه کافران دي | او وبخښه موږ | ای زموږ ربه!

ای زموږ ربه! موږ د کافرو لاسونو ته مه پرېږده ، او زموږ ګناهونه وبخښه ای زموږ ربه!

إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٥﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

بېشکه هم ته | ډېر غالب | د حکمت خاوند یې | یقیناً | دے | تاسو د پاره | په دے کښې | یوه نمونه | غوره

ته زبردست او د حکمتونو خاوند یې . د دغه خلقو په وینا کښې تاسو د پاره ښه نمونه پرته ده

لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ ۚ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ

هغه چا د پاره | چه امید لري | د الله | او د ورځې | د آخرت | او څوک چه | مخ واړوي | نو بېشکه

د هغه چا د پاره چه الله ته د ورتلو او د آخرت د ورځې عقیده لري ، او څوک چه ترې نه مخ واړوي نو الله تعالی

اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٦﴾ عَسَى اللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ

الله | بې نیازه دے | ستائیلے شوے | نزدے دے | چه الله | پیدا کړي | ستاسو په مینځ کښې | او په مینځ

(خو بالکل) بې پروا او د تعریفونو خاوند دے . داخو عجیبه نه ده چه الله تعالی ستاسو او د هغه کسانو

الَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَاللَّهُ قَدِيرٌ ۚ وَاللَّهُ

د هغه خلقو کښې | چه دښمني لرئ تاسو | له هغوی نه | دوستي | او الله | قدرت لرونکے دے | او الله

تر مینځه مینه پیدا کړي چه (نن) ورسره ستاسو دښمني ده او الله ډېر لوئے قادر دے ، او الله تعالی

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾ لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ

بخښونکے | مهربان دے | نه منع کوي تاسو | الله | له هغه خلقو نه | چه جنګ نه کوي تاسو سره

بخښونکے ډېر زیات مهربان دے . الله تعالی تاسو د هغه چا نه نه منع کوي چه د دین په حقله درسره

فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ

د دین په باره کښې | او دوی نه یئ ویستلي تاسو | له کورونو ستاسو نه | له دے نه چه | تاسو احسان وکړئ د دوی سره

جنګونه نه کوي او نه هغوی تاسو د خپلو کورونو نه ویستلي یئ (بلکه الله اجازت درکوي) چه تاسو هغوی سره ښه سلوک

وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٨﴾ إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ

او انصاف وکړئ | د دوی په حق کښې | بېشکه الله | خوښوي | انصاف کوونکي | بېشکه | منع کوي تاسو

کوئ او انصاف ورسره کوئ ، بېشکه انصاف کوونکی کسان د الله تعالی خوښ وي . الله تعالی خو تاسو د هغه چا د

اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ

الله | له هغه خلقو نه | چه جنګ کوي تاسو سره | د دین په حقله | او دوی ویستلئ تاسو | له کورونو ستاسو نه

دوستۍ نه منع کوي چه د دین په حقله درسره جنګیږي او هغوی تاسو د خپلو کورونو نه ویستلي یئ

وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ

او امداد ئې کړې دې | ستاسو په ویستلو کښې | چه تاسو دوستي وکړئ د دوی سره | او څوک چه | دوستي وکړي د دوی سره

او ستاسو په ویستلو کښې ئې د یو بل سره مدد کړے دے او څوک چه د غه خلقو سره دوستي کوي

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا جَآءَكُمُ

نو هم دغه خلق | ظالمان دي | اے | ایمان والو! | هر کله چه | راشي تاسو ته

نو هم دغه خلق ظالمان دي۔ اے مؤمنانو! څه وخت چه مؤمنې ښځې

الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ۭ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ

مؤمنانې ښځې | مهاجرې | نو د دوی امتحان واخلئ | الله | ښه پوهه دے | په ایمان د دوی

هجرت وکړي او تاسو له راشي نو د هغوی آزمیښت کوئ الله د هغوی د ایمان (یا بې ایمانئ) نه ښه واقف دے

فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ۭ لَا هُنَّ

پس که چرې تاسو معلومې کړې دوی | چه مؤمنانې دي | پس مه واپس کوئ دوی | د کافرانو طرف ته | نه هغه (ښځې)

نو که ستاسو باور وشي چه هغوی مؤمنې دي نو کافرانو ته ئې مه واپس کوئ نه دغه ښځې

حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ۭ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ۭ

حلالې دي | د هغوی د پاره | او نه هغه (کافران) | حلال دي | د دوی د پاره | او ورکړئ هغوی ته | څه چه | هغوی خرچ وکړو

کافرانو له حلالې دي او نه کافران هغوی له روا دي او (کافرانو له) ورکړئ څه چه هغوی (په دې ښځو) خرچ کړے وي

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۭ

او نشته گناه | په تاسو باندې | دا چه | تاسو نکاح وکړئ د دوی سره | هر کله چه | تاسو ورکړئ دوی ته | د دوی مهر

او په تاسو هیڅ گناه نشته که تاسو هغوی سره نکاح وکړئ خو هله چه مهر ورته ادا کړئ،

وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْئَلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْئَلُوْا

او مه ساتئ تاسو | تعلقات | د کافرو ښځو سره | او غواړئ | هغه څه | چه خرچ کړي دي تاسو | او دې وغواړي دوی

او چه کومې کافرانې ښځې دي هغوی سره تعلقات باقي مه ساتئ او چه څو مره خرچ مو کړے وي هغه د کافرانو نه وغواړئ او هغوی

مَآ اَنْفَقُوْا ۭ ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ۭ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

هغه څه چه لگولي دي دوی | هم دا دے | حکم د الله | دے به فیصله وکړي | ستاسو په مینځ کښې | او الله | پوهه

چه څومره خرچ کړے وي هغه د (تاسو نه) وغواړي هم دا د الله حکم دے هغه ستاسو تر مینځه فیصله کوي او الله تعالیٰ ډیر پوهه د

حَكِيْمٌ ۝١٠ وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ

د حکمت خاوند دے | او که چرې | ستاسو د لاسه ووځي | څوک ښځه | له ښځو ستاسو نه | د کافرانو طرف ته

حکمت خاوند دے او که چرې ستاسو په ښځو کښې یوه ښځه په کافرانو کښې پاتې شي نو تاسو هغو (کافرانو)

فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ۭ

او غنیمت واخلئ کافرانو نه | نو ورکړئ | هغو ته چه | تللې دي | ښځې د دوی | په شان د هغه څه چه خرچ کړي وو دوی

نه غنیمت حاصل کړئ نو د چا د لاس نه چه ښځې وتلې دي هغوی ته د خپلې خرچې برابر مال ادا کړئ۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ⑪ یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ اِذَا جَآءَكَ

او ویره کوئ | دَ الله | هغه ذات چه | تاسو په هغه | ایمان لرئ | اے نبی ! | هرکله چه راشی تا ته

او دَ الله تعالیٰ نه ویره ساتئ چه تاسو پرے ایمان راوړے دے۔ اے پیغمبره ! چه مؤمنے ښځے درله

الْمُؤْمِنٰتُ یُبَایِعْنَكَ عَلٰٓی اَنْ لَّا یُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَیْـًٔا

مؤمنانے ښځے | چه بیعت کوی تا سره | په دے خبره چه | شریک به نهٔ مقرر وی | دَ الله سره | څهٔ څیز

راشی ، او دَ دے خبرو بیعت در سره کوی چه الله تعالیٰ سره به هیڅوک نهٔ شریکوی

وَّلَا یَسْرِقْنَ وَلَا یَزْنِیْنَ وَلَا یَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا یَاْتِیْنَ بِبُهْتَانٍ

او نهٔ به دوئ غلا کوی | او نهٔ به دوئ زنا کوی | او نهٔ به دوئ وژنی | اولاد خپل | او نهٔ به نکوی | څهٔ بهتان

او غلا به نهٔ کوی ، او زنا به نهٔ کوی او خپل بچی به نهٔ وژنی او دَ بهتان اولاد به نهٔ راوړی چه څوک په خپلو

یَّفْتَرِیْنَهٗ بَیْنَ اَیْدِیْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا یَعْصِیْنَكَ فِیْ مَعْرُوْفٍ

چه دوئ تړلے وی | په مینځ دَ لاسو نو خپلو | او دَ پښو خپلو کښے | او دوئ به نافرمانی نهٔ کوی ستا | په یو نیک کار کښے

لاسو او پښو (په خاوند پورے) په دروغه وتړی ، او دَ نیکئ په یو کار کښے به ستا نافرمانی نهٔ کوی

فَبَایِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ⑫

نو بیعت وکړه دَ دوئ سره | او بخښنه وغواړه | دَ دوئ دَ پاره | دَ الله نه | بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے۔

نو ته هغوئ نه لاس نیوګوه او دَ هغوئ په حق کښے دَ الله نه بخښنه غواړه بیشکه الله بخښونکے ډیر زیات مهربان دے۔

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ قَدْ یَئِسُوْا

اے ایمان والو ! | دوستی مهٔ کوئ | هغه قوم سره | چه غضب کړے دے | الله | په هغوئ باندے | هغوئ نا امیده شوی دی

اے مؤمنانو ! هغه خلقو سره یارانے مهٔ ساتئ چه دَ الله تعالیٰ په غضب اخته دی دَ آخرت نه دا

مِنَ الْاٰخِرَةِ كَمَا یَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ⑬ ع

له آخرت نه | لکه څنګه چه | نا امیده شوی دی | کافران | له خاوندانو دَ قبرونو نه

مایوسه دی لکه په قبرونو کښے پراته کافران چه مایوسه دی۔

سُوْرَةُ الصَّفِّ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | اَرْبَعَ عَشْرَةَ اٰیَةً وَّفِیْهَا رُكُوْعَانِ

سورة صف په مدینه کښے نازل شوے | (شروع) دَ الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښے ۱۴ آیتونه او ۲ رکوع دی

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِیْزُ

پاکی بیانوی | دَ الله | هغه څهٔ | چه په آسمانونو کښے | او هغه څهٔ | چه په زمکه کښے دی | او هم دے | غالب

دَ الله تعالیٰ پاکی بیانوی هر څهٔ چه په آسمانونو او په زمکه کښے دی ، او هغه زبردست دَ حکمتونو

الْحَكِیْمُ ① یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ②

دَ حکمت خاوند دے | اے ایمان والو ! | ولے | وایئ تاسو | هغه څهٔ | چه نهٔ ئے کوئ تاسو

خاوند دے۔ اے مؤمنانو ! دا سے خبرے ولے دَ خُلے نه او باسئ چه هغه نهٔ (پوره) کوئ۔

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝٣ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

ډېره ناخوښه شوه | په نزد د الله | دا چه تاسو وايئ | هغه څه چه تاسو يې نه کوئ | بيشکه الله | خوښوي

د الله تعالیٰ په نزد د ناراضګئ خبره دا ده چه داسې خبره کوئ چه هغه (پوره) کوئ نه. د الله تعالیٰ هغه کسان خوښ

الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۝٤

هغه خلق چه | جنګ کوي | د هغه په لاره کښې | صف تړلي | لکه چه دوئ | يو ديوال دے | په قلعي سره ټينګ کړے شوے

وي چه د هغهٔ په لاره کښې داسې جنګيږي لکه په قلعي پوخ شوے ديوال

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ

او هر کله چه ووئيل | موسیٰ | خپل قوم ته | اے زما قومه! | ولې | تاسو تزنوئ ما | او بيشکه تاسو پوهيږئ

او څهٔ وخت چه موسیٰ خپل قوم ته ووئيل اے زما قومه! تاسو ما ولې آزاروئ؟ او په دے ښهٔ پوهه يئ

اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ۭ فَلَمَّا زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ۭ

چه بيشکه زهٔ | رسول يم | د الله | ستاسو طرف ته | پس هر کله چه | دوئ کاږه لاړل | نو کاږه کړل | الله | زړونه د دوئ

چه زهٔ تاسو ته د الله رسول راغلے يم، بيا هر کله چه هغوئ ګمراهي اختيار کړه (نو) الله تعالیٰ د هغوئ زړونه واړول

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٥ وَاِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

او الله | هدايت نه کوي | نافرمانه خلقو ته | او هر کله چه ووئيل | عيسیٰ خوئے د مريم

او الله تعالیٰ (داسے) نافرمانه خلقو ته لاره نهٔ ښائي. او هغه وخت (رايادکړه) چه عيسیٰ د مريم خوئے ووئيل چه

يٰبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا

اے بني اسرائيلو! | بيشکه زهٔ | رسول يم | د الله | ستاسو طرف ته | تصديق کوونکے | د هغه څهٔ

اے بني اسرائيلو! زهٔ د الله تعالیٰ رسول يم (چه) تاسو طرف ته (راليږلے شوے يم) د تورات تصديق کوونکے يم

بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي

چه له ما نه وړاندې دے | تورات | او زيرے ورکوونکے يم | د يو رسول | چه راځي به | دروستو له ما نه

چه زما نه وړاندې راغلے دے، او د يو (بل) رسول زيرے درکوم چه زما نه پس به راځي،

اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ۭ فَلَمَّا جَاۗءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ

نامه د هغهٔ به | احمد وي | بيا هر کله چه | هغه راغے دوئ ته | د ښکاره نخښو سره | نو ئې ووئيل | دا خو | جادو دے

نوم به ئې احمد وي. نو بيا چه هغهٔ ورته ښکاره نخښے راوړے نو دوئ ووئيل چه دا خو ښکاره

مُّبِيْنٌ ۝٦ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ

ښکاره | او څوک | زيات ظالم دے | له هغه چانه | چه وے تړل | په الله باندې | دروغ | او هغه

جادو دے. او د هغه چا نه څوک زيات ظالم دے چه په الله تعالیٰ باندې دروغ تړي؟ حال دا چه

يُدْعٰٓى اِلَى الْاِسْلَامِ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٧ يُرِيْدُوْنَ

را بللے شي | د اسلام طرف ته | او الله | لاره نهٔ ښائي | ظالمانو خلقو ته | دوي غواړي

چه هغه د اسلام طرف ته را بللے شي، او الله تعالیٰ داسې ظالمانو ته هدايت نهٔ کوي. دوئ غواړي

لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ

چه مړ کړي | نور دَ الله | په خپلو خُلو سره | او الله | پوره کوونکے | دَ نُور خپل دے | اګر که | بد ئے ګڼړي

چه دَ خدائے نور دَ خُلے په پوکو مړ کړي   او الله تعالیٰ به خپل نور کمال ته رسوي اګرکه په کافرانو

الْكٰفِرُوْنَ ۝۸ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ

کافران | هم دے | هغه چه | وے لیږلو | پیغمبر خپل | هدایت | او دین | دَ حق سره

بد لګي.   الله تعالیٰ هغه ذات دے چه خپل رسول ئے دَ هدایت او دَ حق دین سره راولیږلو

لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۝۹ ع ۹

چه ئے غالب کړي دا | په ټولو دینونو باندې | اګر که | بد ئے ګڼړي | مشرکان خلق

چه دا دین په نورو ټولو دینونو باندې غالب کړي   اګرکه دَ مشرکانو په زړونو باندې تیاره راځي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ

اے دَ ایمان خاوندانو! | آیا زهٔ وُښایم تاسو ته | داسے تجارت | چه خلاصے در کړي تاسو ته | له عذاب

اے مؤمنانو !   آیا داسے تجارت درته وُښایم   چه دَ دردناک عذاب نه مو بچ

اَلِيْمٍ ۝۱۰ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

دردناک نه | تاسو ایمان راوړئ | په الله | او دَ دهٔ په رسول | او تاسو جهاد کوئ | په لاره دَ الله کښے

کړي - ؟ (هغه دا چه) په خدائے او په پیغمبر ایمان راوړئ ، او دَ الله تعالیٰ په لاره کښے دَ ځان او

بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝۱۱

په خپلو مالونو سره | او په خپلو ځانونو سره | هم دا | غوره دی | تاسو دَ پاره | که چرے | تاسو پوهیږئ.

دَ مال جهاد کوئ ،   دا در له ډیره غوره دہ   که تاسو پوهیږئ.

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

دے به وُبخښي | تاسو دَ پاره | ستاسو ګناهونه | او داخل به کړي تاسو | په باغونو کښے | چه بهیږي به | لاندې دَ هغې نه

الله تعالیٰ به ستاسو ګناهونه معاف کړي او داسے باغونو کښے به مو داخل کړي   چه دَ هغې لاندې به

الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۲

ولے | او محلونو | پاکیزهٔ ته | په باغونو کښے | دَ همیشه پاتے کیدو | هم دا دہ | کامیابي | لویه

ولے بهیږي او ښکلو پاکیزه ځایونو ته چه په تل سمسور باغونو کښے به آبادوي، هم دغه غټه کامیابي دہ

وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا ؕ نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ؕ وَبَشِّرِ

او دویمه خبره | چه تاسو ئے خوښوئ | مدد دے | دَ الله دَ طرف نه | او فتح | نزدے | او زیرے ورکړه

او یوه بله (غټه ګټه) چه ستاسو ډیره خوښه دہ یعنې دَ الله مدد او زر ګټات   او مؤمنانو ته دَ دې

الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۳ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ

مؤمنانو ته | اے | دَ ایمان خاوندانو | شئ تاسو | مددګار | دَ الله | لکه چه | وئیلي وو

زیرے ورکړه   اے مؤمنانو !   تاسو دَ الله (دَ دین) مددګار شئ ،لکه چه عیسیٰ دَ مریم

عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّنَ مَنْ أَنْصَارِيَ إِلَى اللهِ ۖ قَالَ

عیسیٰ ځوئے د مریم | حواریانو ته | چه څوک دے | زما مددګار | د الله طرف ته | دوئیل

ځوئے حواریانو ته وئیلی وو چه څوک ماسره د الله تعالیٰ د پاره ملا تړ کوی ؟ حواریانو

الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللهِ فَآمَنَتْ طَّائِفَةٌ مِّنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ

حواریانو | مونږ یو | مددګار (د دین) | د الله | نو ایمان راوړو | یو جماعت | له بنی اسرائیلو نه

جواب ورکړو چه مونږ د الله (د دین) ملاتړیو ، نو بیا په بنی اسرائیلو کښے یو ټولی ایمان راوړو

وَكَفَرَتْ طَّائِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ

او انکار وکړو | یو جماعت | نو مونږ مدد وکړو | د هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړو | په مقابله د دښمنانو د دوئی کښے

او بل ټولے منکر پاتے شو ، نو مونږ د دښمن په مقابله کښے د ایماندارو امداد وکړو

فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ ⑭ ع ۲ ۱۰

| نو دوئی شول | غالب |

نو هغوئی غلبه بیاموندله ۔

سُورَةُ الْجُمُعَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	إِحْدَىٰ عَشْرَةَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ
سورة جمعه په مدینه کښے نازل شو	(شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے	او په دے کښے ۱۱ آیتونه او ۲ رکوع دی

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الْمَلِكِ

تسبیح کوی | د الله | هر هغه څه چه | په آسمانونو کښے | او هر هغه څه | چه په زمکه کښے دی | دے بادشاه دے

د الله تعالیٰ پاکی بیانوی هر څه چه په آسمانونو کښے او په زمکه کښے دی چه بادشاه دے

الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ① هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا

ډیر پاک | غالب | د حکمت خاوند دے | هم دے | چا چه | راولیږلو | په امیانو کښے | یو پیغمبر

پاک دے زبردست دے د حکمتونو خاوند دے ، هغه ذات دے چه په امیانو (عربو) کښے د هغوئی د ذات نه یو

مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ

هم له دوئی نه | چه تلاوت کوی په دوئی باندے | د آیتونو د ده | او پاکوی دوئی | او زده کوی دوئی ته | کتاب | او پوهه

پیغمبر راولیږلو چه د الله آیتونه ورته اوروی او هغوئی پاکوی او د کتاب او د حکمت خبرے ورته ښائی

وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ② وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا

اګر چه دوئی وو | له دے نه وړاندے | په ښکاره ګمراهئی کښے | او نورو له (هم) | له دوئی نه | چه لا نه دی

حال دا دو چه دوئی د دے نه مخکښے په ښکاره ګمراهئی کښے پراته وو ۔ او په دوئی کښے نورو له (هم) (ده راولیږلے)

يَلْحَقُوا بِهِمْ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ③ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ

ملاو شوی | د دوئی سره | او هم دے | غالب | د حکمت خاوند | دا دے | فضل | د الله | دے ورکوی

چه هغوئی لا تر اوسه را رسیدلی نه دی او هغه زبردست د حکمت خاوند دے ۔ دا د الله فضل دے د چا په حقله چه

مَنْ يَّشَاۤءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٤﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا

هغه چا ته چه غواړي | او الله | خاوند دَ فضل | لوئے دے | مثال | دَ هغه کسانو | چه بار کړے شو په دوی باندې

دَ چا په حقله چه وغواړي په هغه ئے وکړي او الله دَ لوئے فضل خاوند دے. چا ته چه په تورات باندې دَ عمل کولو حکم

التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ؕ بِئْسَ

تورات | بیا | اُوچت نه کړو دوی دا | په شان دَ حال دَ خره | چه اُوچتوي کتابونه | بد دے

شوے وو، بیا هغوی په دے عمل ونه کړو دَ هغوی مثال دَ خره دے چه کتابونه پرے بار وي ، دَ هغې قوم

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

مثال | دَ هغه خلقو | کوم چه | دروغ وګڼړل | آیتونه دَ الله | او الله | لاره نه ښائي

مثال ډیر خراب دے چه دَ خدائے آیتونه ئے دروغ وګڼړل او الله تعالیٰ ظالمانو خلقو

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥﴾ قُلْ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ

قوم | دَ ظالمانو ته | ووایه | اے خلقو ! | چه یهودیان یئ ! | که چرے تاسو خیال کوئ | چه تاسو

ته هدایت نه کوي ته ووایه چه اے یهودو ! که تاسو دا دعویٰ لرئ چه بس یواځې

اَوْلِيَاۤءُ لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٦﴾

دوستان یئ | دَ الله | سوا | دَ نورو خلقونه | پس آرزو وکړئ | دَ مرګ | که چرے تاسو رښتینی یئ.

تاسو په ټولو خلقو کښے دَ الله دوستان یئ بل څوک نه نو دَ خپل مرګ آرزو وکړئ که تاسو رښتینی یئ.

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗۤ اَبَدًاۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ

او | دوی به آرزو وُنه کړي دَ دے | همیشه | په وجه دَ هغه څهٔ | چه وړاندې وُلیږل | لاسونو دَ دوی | او الله

او دوی به هیڅ کله دا آرزو وُنه کړي ځکه چه دَ خپلو لاسه وړاندې لیږلی عملونه ورته معلوم دي. او الله

عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٧﴾ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ

ښهٔ پوهه دے | په ظالمانو | ووایه | بیشکه | مرګ | هغه چه | تاسو تښتئ | له هغے نه | بیشکه هغه

په دے ظالمانو ډیر ښهٔ پوهه دے. ورته ووایه چه تاسو دَ کوم مرګ نه تښتئ هغه خو به ضرور

مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ

تاسو ته ملاویدونکے دے | بیا به | واپس کړے شئ | طرف | دَ پوهیدونکی دَ پټو | او دَ ښکاره وُ ته | بیا به دے تاسو ته وښائي

تاسو رائیسي ، بیا به دَ پټو او دَ ښکاره هر څهٔ نه واقف (الله) ته وړاندې کیږئ نو هغه به درته

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ ع ١ / ٨ / ١١

څهٔ چه به | تاسو کول | اے | ایمان والو | هر کله چه | راوبللے شي | مونځ دَ پاره

خپل عملونه یو په یو په ګوته کړي اے مؤمنانو ! هر کله چه دَ جمعے په ورځ دَ مونځ دَ پاره

مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ

په ورځ دَ جُمعے | نو ورمنډه کړئ | دَ الله دَ ذکر طرف ته | او پریږدئ | اخستل خرڅول | هم دا ښهٔ | غوره دے

اذان وکړے شي ، نو دَ الله دَ یادولو دَ پاره روان شئ او اخستل خرڅول پریږدئ دا تاسو دَ پاره غوره دے

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٩ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا

تاسو ته ښه دي | که چیرې تاسو پوهیږئ. | پس هر کله چه | پوره اداشي | مونځ | نو تاسو خوارۀ شئ

که تاسو پوهیږئ. بیا چه مونځ پوره شي نو په زمکه

فِي الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ

په زمکه کښې | او لټوئ | فضل (رزق) | د الله | او یاد کړئ | الله | ډیر | د پاره د دې چه تاسو

خوارۀ شئ او د خدائے (مقرره کړے) روزي لټوئ او الله تعالیٰ ډیر ډیر یادوئ چه کامیاب

تُفْلِحُوْنَ ۝١٠ وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوَا انْفَضُّوْٓا اِلَيْهَا

خلاص بیا مومئ | او هر کله چه | دوئ ووینی | تجارت | یا لوبه تماشه | (نو) دوئ منتشر کړی | د هغې طرفته

شئ. او (بعضې کسانو) چه د سودا یا د تماشې څیز ولیدو، نو هغې پسې په منډه خوارۀ واره شول

وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا ؕ قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ

او پریښودی تا | ولاړ | ته ووایه | څۀ چه | الله سره دی | هغه ډیر ښۀ دی | له لوبو نه

او ته ئے ولاړ پریښودے. ورته ووایه چه د الله تعالیٰ سره کوم ثواب دے هغه د تماشو او د

وَمِنَ التِّجَارَةِ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝١١

او له تجارت نه | او الله | ډیر ښۀ | روزي ورکوونکے دے

سودا ګانو نه ډیر غوره دے او الله تعالیٰ ډیر ښۀ روزي رسان دے.

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ مَدَنِيَّةٌ ١٠٤ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ ٢

سورۃ منافقون په مدینه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې ١١ آیتونه او ٢ رکوع دی

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ

هر کله چه راشي تاته | منافقان | (نو) وائي | مونږ ګواهي ورکوو | چه بیشکه ته | د الله رسول یې

(اے نبي کریمﷺ) تاله چه منافقان راشي نو وائي چه مونږ ګواهي ورکوو چه ته بیشکه د الله رسول یې.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

او الله | پوهیږي | چه بیشکه ته | د ده رسول یې | او الله | ګواهي ورکوي | (چه) بیشکه | منافقان خلق

او الله ته دا خو معلومه ده چه ته د الله رسول یې. خو الله (د دې خبرې) ګواهي (هم) کوي چه دا منافقان

لَكٰذِبُوْنَ ۝١ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا

دروغژن دي | دوئ جوړ کړی دی | قسمونه خپل | ډالونه | پس دوئ منع کړل (خلق)

دروغژن دي. دوئ ځان ته خپل قسمونه ډالونه کړی دی، بیا دوئ (نور خلق هم) د

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٢ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

د الله د لارے نه | بیشکه بد دی | هغه څۀ | چه دوی ئے کوی | دا | ځکه چه دوئ

الله د لارے نه منع کوی د دوئ دا کارونه ډیر نا کاره دی. دا ځکه چه دوئ

ربع ١٤

وقف لازم

اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٣﴾

ایمان راوړو | بیا | کافر شول | پس مُهر ووهلے شو | په زړونو دَ دوئ | پس دوئ | نهٔ پوهیږی

ایمان راوړو بیا کافران شول نو په زړونو ئے الله تعالیٰ مهر ولګولو نو اوس هغوئ نهٔ پوهیږی۔

وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ۚ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ

او هر کله چه | ته وُوینے دوئ ته | نو ښهٔ لګی تا ته | بدنونه دَ دوئ | او که چرے دوئ خبره وکړی | نو ته اَورے

او چه ته ئے وُوینے نو دَ دوئ جُثے درته ښائسته ښکاره شی او چه خبرے کوی نو ته دَ دوئ

لِقَوْلِهِمْ ۚ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۚ يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ

دَ دوئ خبره | لکه چه دوئ | لرګی دی | په دیوال لګولے شی | دوئ خیال کوی | هر دَ زور آواز

خبرے اَورے دوئ جثت لکه (په دیوال پورے) وُدرَولے شوی لرګی دی، دوئ هره چغه په خپل

عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۚ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۖ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٤﴾

په خپل ځان | هم دوئ دی | دُښمنان | نو ته دَ دوئ نه ځان ساته | هلاک کړی دوئ | الله | چرته ځوا | دوئ اړولی روان دی

ځان ګنړی۔ دوئ (ستا) دُښمنان دی دَ دوئ نه ځان ساته الله دِ دوئ برباد کړی، دا په کومه غاړه روان دی؟

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَوَّوْا

او هر کله چه | وُ ویلے شی | دوئ ته | چه راشئ تاسو | چه بخښنه وغواړی | تاسو دَ پاره | رسول دَ الله | نو دوئ تاو کړی

او چه ورته وویلے شی چه راشئ چه دَ الله پیغمبر درله بخښنه وُغواړی نو (دوئ په کبر کښې)

رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٥﴾ سَوَآءٌ

خپل سرونه | او ته به وُوینے دوئ | چه دوئ مخ اړوی | او دوئ | لوئی کونکی دی | برابره ده

خپل سرونه تاو کړی او ته به ئے وُوینے چه دوئ مخونه جارباسی او ځان غټ ګنړی دَ دوئ په حقله

عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ۚ لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ

په دوئ باندې | که ته بخښنه وُغواړے | دَ دوئ دَ پاره | یا | بخښنه وُنهٔ غواړے | دوئ دَ پاره | هیڅکله به وُنهٔ بخښی | الله

برابره ده که ته ورله بخښنه غواړے یا بخښنه نهٔ غواړے، الله تعالیٰ به دوئ ته هیڅ

لَهُمْ ۚ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٦﴾ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

دوئ | بیشکه الله | هدایت نهٔ کوی | قوم | دَ نافرمانو ته | دا هغه کسان دی چه | دوئ وائی چه

بخښنه نهٔ کوی یقیناً الله تعالیٰ نافرمانه خلقو ته هدایت نهٔ کوی۔ دا خو هغه کسان دی چه وائی چه

لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ۗ

خرڅ مهٔ کوئ | په هغه چا باندې | چه دَ رسول الله سره دی | تر دے چه | دوئ خواره واره شی

څوک دَ الله پیغمبر سره راټول شوی دی په هغوئ خرڅ مهٔ کوئ چه خواره واره شی

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

او الله دَ پاره دی | خزانے | دَ آسمانونو | او دَ زمکے | او لیکن | منافقان

حال دا چه دَ آسمانونو او دَ زمکے خزانے الله تعالیٰ سره دی خو منافقان په دے

لَا يَفْقَهُونَ ۝٧ يَقُولُونَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ

نهٔ پوهیږي | دوی وائی | که چرے | مونږ واپس راوګرځیدو | مدینے ته | نو خامخا به وباسی

نهٔ پوهیږی. دوی وائی چه کهٔ مونږ مدینے ته پسته لاړ شو، نو عزتمند خلق به

الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ۚ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ

ډیر عزت والا | له هغے نه | ذلیل لره | او الله د پاره دے | عزت | او د هغهٔ د رسول د پاره | او مؤمنانو د پاره | او لیکن

ذلیله کسان ترے نه بهر وباسی، او عزت خو بس د الله او د رسول ﷺ او د مؤمنانو دے خو منافقان

الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۝٨ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ

منافقان | نهٔ پوهیږی | اے مؤمنانو! | غافله دِ نهٔ کړی تاسو | مالونه ستاسو

په دے نهٔ پوهیږی. اے مؤمنانو! (یاد ساتئ چه) مالونه او اولاد مو دِ الله

وَلَآ أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ ۚ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ

او نهٔ اولاد ستاسو | د الله د ذکر نه | او څوک چه | وکړی | دا کار | نو هم دا خلق دی

د یاد نه منع نهٔ کړی. او څوک چه دا سے وکړی نو هغوی تاوانیان

الْخَاسِرُونَ ۝٩ وَأَنْفِقُوا مِنْ مَّا رَزَقْنَاكُمْ مِّنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَ

نقصان موندونکی | او خرچ کړئ | له هغه څهٔ نه | چه درکړی دی مونږ تاسو ته | وړاندې له دے نه | چه راشی

پاتے شول. او مونږ چه درته څهٔ درکړی دی د هغے نه (په خیراتونو) خرچ کوئ د دے نه وړاندې چه یو ته

أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِيٓ إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ

یو ته له تاسو نه | مرګ | نو ووائی | اے زما ربه! | ولے مهلت را نهٔ کړو تا ماته | لږ مودے د پاره

مرګ په سر ودریږی نو بیا به وائی چه اے زما ربه! ما ته دِ یو څو ورځے مهلت ولے را نهٔ کړو؟

فَأَصَّدَّقَ وَأَكُنْ مِّنَ الصَّالِحِينَ ۝١٠ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا

چه ما خیرات کړے وے | او زهٔ شوے وے | له نیکانو نه | او هیڅ کله به مهلت ورنکړی | الله | یو نفس ته

چه خیرات مِ کړے وے او په نیکانو کښے شمیر شوے وے. او الله تعالیٰ هیڅ ته مهلت نهٔ ورکوی.

إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ۝١١

هر کله چه راشی | نیټه د دهٔ | او الله | خبردار دے | له هغه څهٔ نه | چه تاسو ئے کوئ.

هر کله چه نیټه ئے پوره شی او الله تعالیٰ ستاسو د کارونو نه پوره پوره خبر دے.

سُورَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ | ثَمَانِيَ عَشْرَةَ آيَةً وَّفِيهَا رُكُوعَانِ

سورة تغابن په مدینه کښے نازل شوه | (شروع) په نامه د الله چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ۱۸ آیتونه او دوه رکوع دی

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ لَهُ الْمُلْكُ وَ

پاکی بیانوی | د الله | کوم مخلوق | چه په آسمانونو کښے | او کوم چه | په زمکه کښے دے | د دهٔ دے حکومت | او

د الله تعالیٰ پاکی بیانوی څهٔ چه په آسمانونو او په زمکه کښے دی. حکومت یوازے د دهٔ دے، او

لَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ١ هُوَ الَّذِیْ

دهٔ له دهٔ | ستاینه | او هم دے | په هر څیز بانډې | قدرت لرونکے دے | هم دے | چا چه

ټول تعریفونه دَ هغهٔ دی او هغه په هر څیز پوره قدرت لری. الله هغه دے چه تاسو ټول ئے

خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

پیدا کړی تاسو | پس ځنے له تاسو نه | کافران دی | او ځنے له تاسو نه | مؤمنان دی | او الله | هغه څهٔ ته | چه تاسو ئے کوئ

پیدا کړی، نو ځنے درکښے کافر دی او ځنے مؤمنان دی او الله تعالیٰ ستاسو کارونه وینی

بَصِیْرٌ ٢ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ

ګوری | پیدا ئے کړل | آسمانونه | او زمکه | په حق سره | او صورتونه ئے جوړ کړو ستاسو

ګوری. آسمانونه او زمکه ئے سم سم پیدا کړل، او ستاسو صورتونه

فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ وَاِلَیْهِ الْمَصِیْرُ ٣ یَعْلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ

نو ښهٔ ئے جوړ کړل | صورتونه ستاسو | او دَ دهٔ طرف ته | واپس تلل دی | دے پیژنی | هغه څهٔ | چه په آسمانونو کښے

ئے جوړ کړل او ډیر ښائسته ئے جوړ کړل او دَ هغهٔ طرف ته واپس تلل دی، هغهٔ ته دَ آسمانونو او دَ زمکے ټول څیزونه

وَالْاَرْضِ وَیَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ

او زمکه کښے دی | او دے پیژنی | څهٔ چه | تاسو پټوئ | او څهٔ چه | تاسو ښکاره کوئ | او الله | پوهه دے

معلوم دی، او ستاسو دَ پټو او ښکاره کارونو نه ښهٔ واقف دے او الله تعالیٰ ته دَ زړونو

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ٤ اَلَمْ یَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ

په راز | دَ سینو | آیا نهٔ دے راغلے تاسو ته | خبر | دَ هغه خلقو | چه کافران وو | له دے نه وړاندے

ټول رازونه په ښهٔ شان معلوم دی. آیا تاسو ته دَ مخکنو خلقو خبر راغلے نهٔ دے چه تاسو نه وړاندے ئے کفر کړے وو

فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ٥ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ

پس وڅکلو دوی | مصیبت | دَ خپل کار | او دوی دَ پاره | عذاب | دردناک دے | دا | ځکه چه

نو هغوی دَ خپلو کارونو په وبال اخته شول او هغوی دَ پاره دردناک عذاب مقرر دے. دا ځکه چه هغوی

كَانَتْ تَّاْتِیْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ فَقَالُوْۤا اَبَشَرٌ یَّهْدُوْنَنَا ۟

راغلل دوی دوی ته | پیغمبران دَ دوی | دَ واضحو نخښو سره | نو دوی وویل | چه آیا بنیادمان به | موږ ته لاره ښائی

له پیغمبران دَ پرانستو نخښو سره راغلل، نو دوی وویل چه آیا بشر به موږ ته لاره چاره ښائی

فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ غَنِیٌّ حَمِیْدٌ ٦ زَعَمَ

پس دوی انکار وکړو | او مخ ئے واړولو | او پروا ونه کړه | الله | او الله | بے نیازه | ستائلے شوے دے | ګمان وکړو

نو هغوی انکار وکړو او مخ ئے واړولو او الله هم دَ هغوی پروا ونه کړه او الله بے پروا دے دَ تعریفونو لائق دے. دَ کافرانو خیال

الَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اَنْ لَّنْ یُّبْعَثُوْا ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّیْ

هغه خلقو | چه منکر دی | چه | دوی به هیچ کله نهٔ شی راپاڅولے | ووایه | ولے نه | زما دَ قسم دے په رب زما

دے چه هغوی به (دوباره) هیچ کله (ژوندی) نهٔ شی راپورته کولے. ته ووایه! چه ولے نه او زما دَ رب قسم دے

لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

خامخا به راپورته کړے شئ تاسو | بیا به | تاسو ته وښودلے شي | هغه څه | چه تاسو به کول | او دا خبره | الله د پاره

چه تاسو به خامخا راپاڅولے شئ بیا به درته خپل ټول عملونه په ګوته کولے شي او دا کار الله تعالیٰ ته ډیر آسان

يَسِيرٌ ⑦ فَاٰمِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهٖ وَالنُّورِ الَّذِيٓ اَنْزَلْنَا ۚ وَاللّٰهُ بِمَا

آسانه ده | پس ایمان راوړئ | په الله | او د هغه په رسول | او په نور | هغه چه | مونږ نازل کړو | او الله | له هغه څه

دے ، نو په الله تعالیٰ او د هغه په رسول او په هغه نور باندې ایمان راوړئ چه مونږ رالیږلے دے او الله تعالیٰ

تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ⑧ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ

چه تاسو یې کوئ | خبردار دے | په هغه ورځ | چه جمع به کړی تاسو | په ورځ | د قیامت | هم دا ده | ورځ

ستاسو د کارونو نه خبر دے ، په کومه ورځ چه به هغه تاسو د جمع کیدو (یعنې د قیامت) په ورځ راجمع کړی ، هم دغه د (سو)

التَّغَابُنِ ۗ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ

د ګټے بیلات | او څوک چه | ایمان راوړی | په الله | او عمل وکړی | نیک | نو لرے به کړی | له هغه نه | بدیانے د هغه

زیان ورځ ده . او چا چه په الله ایمان راوړے وی او د نیکئ کارونه کوی نو الله به د هغه ګناهونه لرے کړی

وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَآ اَبَدًا ۗ

او داخل به کړی یې | په باغونو کښې | چه بهیږی به | لاندې د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښې | همیشه

او هغه به په داسے باغونو کښے داخل کړی چه د هغے (د ونو) لاندې ویالے بهیږی همیشه به پکښے اوسیږی .

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ⑨ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ

هم دا ده | کامیابي | لویه | او کومو خلقو | چه انکار وکړو | او دروغ ئے وګڼل | زمونږ آیتونه | هم داغلي دي

دا ډیره لویه کامیابي ده . او چا چه انکار کړے وی او زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼلی وی نو هغوی

اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِينَ فِيهَا ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ⑩ مَآ اَصَابَ

دوزخیان | همیشه به وی | په هغے کښے | او بد دے | ځائے د ورتلو | نه رسیږی

دوزخیان دی چه تل به پکښے پراته وی او دغه ډیره نا کاره ټیکاونړه ده . (دنیا کښے) هیڅ مصیبت

مِنْ مُصِيبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۗ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ۗ

هیڅ مصیبت | مګر | په حکم د الله | او څوک چه | ایمان راوړی | په الله | د هدایت کوی | د هغه زړه ته

د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر نه راځي او څوک چه په الله تعالیٰ ایمان راوړی هغه د هغه زړه ته هدایت کوی

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ⑪ وَاَطِيعُوا اللّٰهَ وَاَطِيعُوا الرَّسُولَ ۚ فَاِنْ

او الله | په هر څیز باندې | ښه پوهه دے | او حکم منئ | د الله | او حکم منئ | د رسول | بیا که چرے

او الله تعالیٰ په هر څیز ډیر ښه پوهه دے . او تاسو د الله په وینا عمل کوئ او د رسول حکم منئ ، نو که مخ مو

تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُولِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِينُ ⑫ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ

تاسو مخ واړوئ | نو بیشکه | په پیغمبر زمونږ | رسول دی | ښکاره | الله | نشته هیڅوک معبود | سوا د هغه نه

ترے نه واړولو نو زمونږ د رسول په ذمه خو بس تش (حکمونه) په ښکاره رسول دی ، د الله تعالیٰ نه سوا بل معبود نشته

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ

او په الله باندې | پکار ده چه توکل وکړي | مؤمنان | اے مؤمنانو ! | بیشکه

او ایماندار کسان دې بس په خدائے باندې باور ساتي . اے مومنانو ! ستاسو په بعضو

مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا

ځنې ستاسو له بیبیانو نه | او (ځنې) ستاسو له اولاد نه | دښمنان دي | ستاسو | پس تاسو او بیرېږئ له دوئ نه | او که چرې تاسو معافي ورکړئ

او اولاد کښې ځنې ستاسو دښمنان دي . نو د هغوئ په حقله ویښ وسیږئ او که معاف ورکړئ

وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤﴾ اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ

او مخ ورګرځوئ | او بخښنه وکړئ | نو بیشکه | الله | ډېر بخښونکے | مهربان دے | بیشکه | ستاسو مالونه

او ستر ګې پرې پټې کړئ او ورته بخښئ ، نو الله بخښونکے مهربان دے . بیشکه ستاسو مالونه او ستاسو

وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۭ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿١٥﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

او ستاسو اولاد | ازمیښت دے | او الله | سره دے | اجر | ډېر لوئے | پس او بیرېږئ | د الله نه

اولاد خو یو ازمیښت دے ، او الله تعالیٰ سره ډېر لوئے اجر دے . نو د الله تعالیٰ نه ویره کوئ

مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ۭ وَمَنْ

څومره چه تاسو نه کیدے شي | او واورئ | او حکم منئ | او خرڅ کوئ | غوره به وي | ستاسو په حق کښې | او څوک چه

څومره چه مو وس رسي او خبره اورئ او حکم منئ او (د الله په لاره کښې) خرڅ کوئ دا به تاسو له غوره وي . او څوک چه

يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٦﴾ اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ

بچ شي | له شومتیا | د نفس خپل نه | پس هم دوئ دي | کامیابه | که چرے تاسو قرض ورکړئ | الله ته

د نفس د شومتیا نه بچ شي نو هم دغه کسان کامیاب دي . که تاسو الله تعالیٰ له ښه

قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ

قرض | ښه | نو دے به غبرګ کړي دا | تاسو د پاره | او معاف به کړي | تاسو | او الله

قرض ورکوئ نو هغه به درله په څو څو چنده زیاتوي او ستاسو قصور به معاف کوي او الله تعالیٰ

شَكُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾ ع ٢ / ٨ / ١٦

ډېر قدردان | ډېر تحمل والا دے | پوهه دے | په پټه | او ښکاره خبره | غالب | خاوند د حکمت دے

ډېر قدردان او ډېر تحمل والا دے په پټ او ښکاره هر څهٔ باندې پوهه دے زبردست د حکمت خاوند دے

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورۃ طلاق په مدینه کښې نازل شوې | (شروع) د الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | په دې کښې ١٢ آیتونه او دوه رکوع دي

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډېر زیات رحم خاوند دے

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

اے نبي ! | هر کله چه | طلاق ورکړئ تاسو | ښځو ته | پس طلاق ورکوئ دوئ ته | د دوئ د عدت په شروع کښې

اے نبي ! (مسلمانو ته ووایه !) چه ښځو له طلاق ورکول غواړئ نو د عدت د زمانے نه وړاندې ئې ورکوئ ،

وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ

له کورونو دَ دوئ نه | مهٔ اُوباسئ تاسو دلته | چه ستاسو رب دے | دَ الله نه | او اویریږئ | دَ عدت | او شمیر کوئ

او دَ عدت (دَ ورځو) شمیر کوئ، او دَ الله خپل رب نه ویره ساتئ، او هغوئ دَ خپلو کورونو نه بهر مهٔ اوباسئ

وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۭ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ

دَ الله | حدونه دي | او دا | ښکاره | (ځنې) بے حیائی | داچه دوئ وکړي | مگر | او نهٔ دِ خپله وُځي

او په خپله دِ هم نهٔ وُځي خو هلته! چه دَ بے شرمئ کار په ښکاره توګه وکړي ، او دا دَ الله (مقرر کړی) حدونه دي

وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۭ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ

چه الله | شاید | ته نهٔ پوهیږے | په خپل ځان | نو بیشکه دهٔ ظلم وکړو | دَ الله نه | له حدونو | تیریږي | او څوک چه

او څوک چه دَ الله دَ مقرر حدونو نه وړاندې تیرشي نو هغهٔ په ځان زیاتے وکړو تاته معلومه نهٔ ده، ښائي چه الله

يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ① فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ

نو اُوساتئ دوئ | خپل میعاد ته | دوئ اورسیږي | بیا هرکله چه | (ځنې نوے) خبره | پس له دے نه | پیدا کړي

دَ دے نه پس یوه نوے خبره راپیدا کړي۔ نو چه هغوئ خپل میعاد ته په رسیدو شي، نو (یا خو) دَ قاعدے

بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ

له خپل قوم نه | دوه انصاف پسند | او ګواهان ونیسئ | په ښه طریقه | یا دوئ جدا کړئ | په ښه طریقه

مطابق هغوئ (په نکاح کښے) باقي پریږدئ یا ئے دَ قاعدے مطابق جدا کړئ او په خپلو کښے دوه تنه معتبر پرے ګواهان کړئ

وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ۭ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ

چه ایمان لري | هغه چاته | چه نصیحت کولے شي په دے سره | هم دا خبره ده | دَ الله دَ پاره | ګواهي | او ادا کړئ

او ګواهي سمه دمه هم الله تعالیٰ دَ پاره ورکوئ، په دے مضمون هغه چاته نصیحت کیږي چه په الله تعالیٰ او په

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ڛ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ②ۙ

لاره دَ خلاصی | ده دَ پاره | نو دے به جوړه کړي | دَ الله نه | او څوک چه ویریږي | دَ آخرت | او په ورځ | په الله

ورځ دَ قیامت ایمان لاوړي ، او څوک چه دَ الله تعالیٰ نه ویره کوي نو الله ورله دَ خلاصی لاره او باسي

وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۭ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ

په الله باندې | توکل کوي | او څوک چه | چه دهٔ ته به ګمان هم نهٔ وي | له هغه ځائے نه | او رزق به ورکړي دهٔ ته

او دَ داسے ځایه نه ورته روزي ورکوي چه دَ هغهٔ پرے ګمان هم نهٔ راځي ، او څوک چه په الله تعالیٰ باور ساتي نو هغهٔ له

فَهُوَ حَسْبُهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ۭ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ

دَ هر څیز دَ پاره | الله | مقرر کړے ده | بیشکه | خپل حکم | پوره کوونکے دے | بیشکه الله | پس الله بس دے دهٔ له

یوازے الله کافي دے، الله خپل کار (په هر حال کښے) سرته رسوي ، الله هر څیز له یوه اندازه مقرر

قَدْرًا ③ وَالّٰٓـئِيْ يَىِٕسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآىِٕكُمْ اِنِ

که چرے | له ښځو ستاسو نه | له حیض نه | چه نا اُمیده شوي دي | او کومے ښځے | یوه اندازه

کړے ده۔ او ستاسو په طلاقو شوو ښځو کښے څوک چه دَ حیض نه مایوسه شوي وي که چرے

ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓـِٔىْ لَمْ يَحِضْنَ ؕ
تاسو څهٔ شک وي | نو د دوی عدت دے | درے | میاشتے | او د هغه ښځو | چه لا ورته حیض نهٔ وي راغلے
ستاسو شک وي نو د هغوی عدت درے میاشتے دے او دغسے د هغه ښځو چه حیض ورته لا راغلی نهٔ وي

وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ
او چه د حمل والا دي | د دوی عدت دا دے | چه وُ ځیګوی دوی | حمل خپل | او څوک چه | ویریږی
او د اُمید وارو ښځو میعاد دا دے ، چه اولاد ئے وُشی ، او څوک چه د الله نه

اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ④ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗ
د الله نه | (نو) دے به پیدا کړی | د دهٔ د پاره | په کار د دهٔ کښے | آسانی | هم دا دے | حکم د الله | چه دهٔ نازل کړو دا
ویره کوی نو الله به د هغهٔ په هر کار کښے آسانی پیدا کړی ، دا د الله حکم دے چه تاسو ته ئے

اِلَيْكُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗ
ستاسو طرف ته | او څوک چه ویریږی | د الله نه | نو دے به لرے کړی | له دهٔ نه | بد یانے د دهٔ | او زیات به ورکوی | دهٔ ته
رالیږلے دے او څوک چه د الله نه ویره ساتی نو الله به ترے نه ګناهونه لرے کړی او غټ اجر به ورته

اَجْرًا ⑤ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ
اجر | او ساتئ دغه ښځے | کوم ځائے چه | تاسو اوسیږئ | په اندازه د طاقت خپل
ورکړی ، دغه (طلاقے شوے) ښځے د خپل حیثیت مطابق هغه ځائے کښے اوساتئ کوم ځائے چه تاسو اوسیږئ

وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا
او تاسو دوی له تکلیف مهٔ ورکوئ | چه سختی وکړئ | په دوی باندِ | او که چرے دوی وی | حمل والا | پس خرڅ کوئ
او د هغوی د تنګولو د پاره ورله تکلیف مهٔ ورکوئ ، او که د هغوی خیټه وی نو خرڅ خوراک

عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ
په دوی باندِ | تر دے چه | دوی وځیګوی | حمل خپل | بیا که چرے دوی تے ورکوی | تاسو د پاره | نو ورکړئ دوی ته
ورکوئ ، تر دے چه اولاد ئے پیدا شی ، بیا که هغوی تاسو له (دغه) ماشوم پالی نو خپل (مناسب)

اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ
مزدوری د دوی | او مشوره وکړئ | په خپل مینځ کښے | په ښه طریقه | او که چرے | سختی وکړه تاسو | نو تے به ورکړی
اُجرت ورله ورکوئ او په خپل مینځ کښے د رواج مطابق اجر خلاصوئ او که یو بل سره مو سختی را واخسته نو بله ښځه

لَهٗٓ اُخْرٰى ⑥ لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ
دهٔ ته | بله ښځه | او خرڅ دِ وکړی | خاوند د فراخئ | د خپلے فراخئ مطابق | او هغه چه | تنګ کړے شو | په دهٔ
به (د ماشوم) پالنه کوی. مالدار له د خپلے جلے مطابق خرچه ورکول پکار دی او د چا چه لاس تنګ وی (آمدنی

رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ؕ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَآ
رزق د دهٔ | نو دے دِ خرڅ وکړی | له هغه څهٔ نه | چه ورکړی دی دهٔ ته | الله | تکلیف نهٔ ورکوی | الله | هیچا ته | مګر موافق د هغه څهٔ
ئے کمه وی) نو پکار دی چه الله څهٔ ورکړی وی د هغے مطابق دِ خرڅ خوراک ورکوی الله په چا باندِ زیات بار نهٔ اچوی خو څومره

اٰتٰىهَا ۭ سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ﴿٧﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ

چه دَه له ئې ورکړې دی | ژر به پیدا کړي | الله | د تنګۍ نه پس | آساني | او ډیرو مره | کلي دي | چه نافرماني ئې وکړه

چه ئې ورته (توفیق) ورکړے دې. الله به ورته د تنګۍ نه پس فراخي راولي. او ډیرو مره کلي دي چه د خپل رب او د

عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّعَذَّبْنٰهَا

د خپل رب د حکم | او د هغه د رسولانو (د حکم) | نو موږ حساب واخستو د دوی | حساب | سخت | او موږ عذاب ورکړو دوی ته

هغهٔ د پیغمبرانو د حکم نه ئې مخ واړولو نو موږ ورسره سخت حساب وکړو او موږ هغوئ ته

عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾

عذاب | ډیر خراب | پس دوئ وڅکلو | وبال | د خپل کار | او وو | انجام | د دوئ کار | نقصان

ډیره درنه سزا ورکړه. غرض دا چه هغوئ د خپلو کارونو په وبال کښې راګیر شول او انجام ئې دا چه تاوان ئې ووچت کړو

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ۣ

تیار کړے دے | الله | د دوئ د پاره | عذاب | سخت | پس او ویریږئ | د الله نه | اے د عقل خاوندانو!

الله تعالیٰ هغوئ له سخت عذاب تیار کړے دے، نو د الله تعالیٰ نه ویره کوئ اے هوښیارانو!

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۛ قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾ رَّسُوْلًا يَّتْلُوْا

چه | ایمان مو راوړے دے | بیشکه نازل کړے دے | الله | ستاسو طرف ته | نصیحت | (یعني) یو رسول | چه لولي

چه ایمان مو راوړے دے، الله تعالیٰ تاسو ته نصیحت نامه رالیږلے ده او رسول ئې رالیږلے دے چه تاسو ته

عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

په تاسو باندې | د الله آیتونه | واضحه | د پاره د دې چه راوباسي | هغه خلق | چه ایمان ئې راوړو | او عمل ئې وکړو | نیک

د الله څرګند حکمونه آوروي، چه د ایمان او د نیک عمل خاوندان د

مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا

له تیارو نه | طرف د رڼا ته | او څوک | چه ایمان راوړي | په الله | او عمل وکړي | نیک

تیارو نه رڼا ته راوباسي او څوک چه په الله تعالیٰ ایمان راوړي او د نیکۍ کارونه کوي

يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ

نو داخل به کړي دے | په باغونو کښې | چه بهیږي به | لاندې د هغې نه | نهرونه | همیشه به وي | په هغې کښې | همیشه همیشه

هغوئ به داسې باغونو کښې داخل کړي چه د هغې د اونو لاندې به ویالې بهیږي، تل تر تله به پکښې اوسیږي

قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ﴿١١﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ

بیشکه ښه ورکړے دے | الله | ده ته | رزق | الله | هغه ذات دے | چه پیدا ئې کړل | اووه | آسمانونه | او زمکه (هم)

بیشکه چه دغه سړي له الله ډیره ښه روزي ورکړه. الله هغه ذات دے چه اووه آسمانونه ئې پیدا کړي دي او د هغوئ په شان

مِثْلَهُنَّ ۭ يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ

په شان د دې | ښکته راځي | (د ده) حکم | د دوئ په مینځ کښې | چه تاسو پوهه شئ | بیشکه الله | په هر څیز باندې

زمکه هم. په دې ټولو کښې د الله حکمونه راکوزیږي چه تاسو ته معلومه شي چه الله تعالیٰ په هر څهٔ قدرت

ع ٢ ۵ ١٨

قَدِيْرٌ ۙ وَّ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ﴿١٢﴾ ع

قادر دے | او چہ بیشکہ اللہ | احاطہ کرے دے | پہ ھر څیز باندې | پہ علم سره.

لری ، او د اللہ تعالیٰ علم د ھر څیز نہ را چاپیره شوے دے.

سُوْرَةُ التَّحْرِيْمِ مَدَنِيَّةٌ (١٠٧) | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة تحریم پہ مدینہ کښې نازل شو | (شروع) د اللہ پہ نامہ چہ ډیر مهربان دے ډیر زیات رحم کوونکے دے | او پہ دې کښې ١٢ آیتونہ او ٢ رکوع دی

د اللہ پہ نامہ شروع کوم چہ ډیر مهربان دے ډیر زیات رحم خاوند دے

يٰۤاَيُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِیْ مَرْضَاتَ

اے نبی! | ته ولے حرام کوے | هغه څه چہ حلال کړی د اللہ | تا د پاره | ته غواړے | رضامندی

اے نبی! کوم څیز چہ درلہ خدائے حلال کړے دے هغه ولے حراموے؟ ته خپلے بیبیانے خوشحالول

اَزْوَاجِكَ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١﴾ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ

د بیبیانو خپلو | او اللہ | بخښونکے | مهربان دے | بیشکہ واجب کړل | اللہ | تاسو د پاره | ماتول | د قسمونو ستاسو

غواړے ، او اللہ بخښونکے مهربان دے ، اللہ تعالیٰ تاسو لہ قسمونہ ماتول مقرر کړی دی.

وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿٢﴾ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِیُّ

او اللہ | ستاسو مالک دے | او هم دے | پوهه | د حکمت خاوند دے | او هغه کله چہ پټه ووئیله | نبی

او اللہ تعالیٰ ستاسو کارساز دے او دے پوهه د حکمت خاوند دے ، او هغه وخت را یاد کړه چہ پیغمبر خپلے

اِلٰی بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ

څنو بیبیانو خپلو تہ | یوه خبره | بیا هر کلہ چہ | خبر ئې ورکړو | هغه خبره | او ظاهر کړلو هغه | اللہ

یوے بی بی تہ پټه خبره وکړه ، بیا چہ هغے دغه خبره (چا بل چا تہ) ښکاره کړه او اللہ تعالیٰ پہ

عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ

پہ نبی باندې | نو (نبی) ښودلہ | څہ د دې خبرے | او مخ ئے واړولو | څه د دې خبرے نہ | بیا هر کلہ چہ | نبی ورښودلہ دې تہ | هغه خبره

دے باندې پیغمبر خبر کړو نو پیغمبر د هغے یو کا برخه ښکاره کړه او بله ئے ښکاره نہ کړه بیا چہ پیغمبر هم هغے بی بی تہ خبره وښودلہ

قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ؕ قَالَ نَبَّاَنِیَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿٣﴾ اِنْ تَتُوْبَاۤ

نو هغے ووئیل | چا درښودلہ تا تہ | دا خبره؟ | نبی ووئیل | وښودلہ ما تہ | پوهه | خبردار (خدائے) | کہ چرې تاسو دواړه توبه وکړئ

نو هغے ورتہ ووئیل چہ دا حال درتہ چا ووئیلو؟ پیغمبر ووئیل چہ د علم خاوند خبردار (خدائے) راتہ حال ووئیلو، اے دواړو

اِلَی اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ وَاِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ فَاِنَّ

د اللہ پہ وړاندې | پس بیشکہ کاږه شوی دی | زړونہ ستاسو | او کہ چرې | تاسو د یو بل مدد وکړو | د نبی خلاف | نو بیشکہ

بیبیانو! کہ تاسو د اللہ پہ وړاندې توبه ووېستلہ نو ستاسو زړونہ هسے هم د اګر څېدلی دی او کہ چرې تاسو دواړو د رسول خلاف د یو

اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَجِبْرِيْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ

هم اللہ دے | مدد ګار د دهٔ | او جبرائیل | او نیکان | مؤمنان | او فرښتے (هم) | پس لہ دے نہ

بل مدد کولو نو (یاد ساتئ چہ) اللہ تعالیٰ د پیغمبر مدد ګار دے او جبرائیل او نیکان مؤمنان او د دے نہ پس فرښتے هم د دهٔ

ظَهِيْرٌ ﴿٤﴾ عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا

مل دګار دې دی | نزدې ده | چه رب د ده | که چرې (نبی) تاسو له طلاق ورکړی | نو الله به په بدل کې ورکړی ده ته | بیبیانې

مل دګار دې دی. داکیدے شي چه که پیغمبر تاسو له طلاق ورکړی نو الله به ورله ستاسو په عوض کښې غوره

خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ

غوره | له تاسو | فرمانبردارې | باور کوونکې | دعا کوونکې | توبه کوونکې | عبادت ګذارې | روژه دارې | کونډې

بیبیانې ورکړی مسلمانانې ، مؤمنانې ، فرمان منونکې توبه ویستونکې عبادت کوونکې روژه نیوونکې ځاوندانو

وَّاَبْكَارًا ﴿٥﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا

او پیغلې | اے د ایمان خاوندانو ! | وساتئ تاسو | ځانونه خپل | او خپل کور والا | له اور نه | چه خشاک د هغې به

نه پاتې او پیغلې. اے مؤمنانو ! خپل ځانونه او خپل کور والا د هغې اور نه اوساتئ چه د هغې خشاک

النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ

خلق | او کانړی دی | په هغې (مقرر دی) | فرښتې | سخت خویه | زور اورې | چه نافرمانی نه کوی | د الله څه چه

بنیادم او کانړی دی ، په هغې باندې سخت خویه مضبوطې فرښتې مقررې دی چه په هیڅ کار کښې د الله تعالی

اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا

د حکم ورکړی دوئ ته | او دوئ کوی | د هغه چه دوئ ته حکم ورکړے شي | اے کافرانو ! | تاسو بهانې مه جوړوئ

نافرمانی نه کوی او هم هغه کار کوی د کوم چه هغوئ ته حکم کولے شي اے کافرانو ! نن ورځ عذر معذرت

الْيَوْمَ ؕ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع ١٧ ١٩

نن ورځ | بیشکه تاسو ته به بدله ورکولے شي | د هغه څه | چه تاسو به کول | اے د ایمان خاوندانو !

مه کوئ ، تاسو ته خو بس هیله د خپلو کارونو سزا درکیدے شي اے مؤمنانو !

تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ؕ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ

تاسو توبه کړئ | د الله په وړاندې | توبه | رښتینې | امید دے چه | ستاسو رب به | لرې کړی | له تاسو نه | ګناهونه ستاسو

د الله په وړاندې رښتینې توبه اوباسئ . امید دے چه ستاسو رب ستاسو ګناهونه له تاسو نه لرې کړی

وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ

او داخل به کړی تاسو | باغونو ته | چه بهیږی به | لاندې د هغې نه | نهرونه | په هغه ورځ | چه نه به رسوا کوی | الله

او تاسو به په داسې باغونو کښې داخل کړی چه د هغې لاندې به ویالې بهیږی . په هغه ورځ به الله تعالی نبی

النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

خپل نبی | او هغه کسان چه | ایمان ئې راوړی | د ده سره | نور د دوئ به | منډې وهی | د دوئ نه وړاندې

او د هغه مؤمنان ملګری نه شرموی . خپل نور به ترې نه وړاندې او ښی طرف ته روان

وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۚ

او د دوئ ښی طرف ته | دوئ به وائی | اے زمونږه ربه ! | پوره کړه | مونږ د پاره | نور زمونږ | او وبخښه مونږ

دی ، او دا به وائی چه اے زمونږه ربه ! د ارنړا راله تر آخره پورې قائمه ساته او بخښنه راته وکړه

اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿٨﴾ یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِیْنَ

بیشکه ته | په هر څیز باندې | قادر یې! | اے نبي! | جهاد کوئ | کافرانو | او منافقانو سره

ته په هر څه پوره پوره قدرت لرے. اے پیغمبره! د کافرانو او منافقانو سره جهاد کوه.

وَاغْلُظْ عَلَیْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿٩﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ

او سختي کوه | په دوئ باندې | او ځائے د دوئ | دوزخ دے | او بد دے | ځائے د ورتلو | بیان کړو | الله

او په هغوئ سختي کوه او د هغوئ ټیکاؤ به دوزخ دے او هغه ډیر خراب ځائے دے. الله تعالیٰ کافرانو د

مَثَلًا لِّلَّذِیْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ؕ كَانَتَا تَحْتَ

یو مثال | د هغه کسانو | چه منکر دی | د ښځه د نوح | او د ښځه د لوط | وے دا دواړه | د لاندې د نکاح

پاره د نوح د ښځه او د لوط د ښځه مثال بیان فرمائي. هغه دواړه زمونږ له

عَبْدَیْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَیْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ یُغْنِیَا

د دوؤ بندګانو | زمونږ له بندګانو نه | چه دواړه نیکان وو | پس دے دواړو خیانت وکړو د دوئ سره | نو هغه دواړه په کار رانغلل

بندګانو نه د دوؤ نیکانو بندګانو په نکاح کښې وے، مګر هغوئ دواړو د دوئ حق ضائع کړو نو هغه دواړه بندګان

عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَیْـًٔا وَّقِیْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِیْنَ ﴿١٠﴾

د دوئ | د الله په مقابله کښې | هیڅ هم | او حکم وشو | چه تاسو دواړه داخلې شئ | اور ته | داخلیدونکو سره

د الله په مقابله کښې د هغوئ هیڅ په کار رانغلل او دے ورته وویلے شو چه د نورو ننوتونکو سره تاسو هم دوزخ ته ورننوزئ.

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ

او بیان کړو | الله | یو (بل) مثال | د هغه کسانو د پاره | چه ایمان ئے راوړے دے | د فرعون د ښځه | هر کله چه

او الله تعالیٰ مؤمنانو د پاره د فرعون د ښځه مثال پیش کوی، هر کله چه

قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِیْ عِنْدَكَ بَیْتًا فِی الْجَنَّةِ وَنَجِّنِیْ مِنْ فِرْعَوْنَ

هغے وویل | اے زمار به! | جوړ کړه | ما د پاره | د خپل ځان سره | یو کور | په جنت کښې | او خلاص کړه ما ته | له فرعون نه

هغے دعا وغوښتله چه اے زمار به! ما له په جنت کښے په خپل خوا کښے یو کور جوړ کړه او ما د فرعون او د هغه د

وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِیْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿١١﴾ وَمَرْیَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ

او د هغه د عمل نه | او خلاصے راکړه ماته | له | قوم ظالم نه | او د مریم لور د عمران

(کافرانه) عمل نه بچ وساته او ما د ظالمانو نه هم بچ وساته. او بل د مریم مثال ورکوی چه د

الَّتِیْۤ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِیْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَصَدَّقَتْ

چا چه | بچ ساتلے وو | خپل ننګ ناموس | نو مونږ پوک وهلو | په دے کښے | خپل روح | او دے تصدیق وکړو

عمران لور وه چه خپل ننګ ناموس ئے بچ ساتلے وو نو مونږ (د هغے) په (ګریوان) کښے خپل روح پوک وهلو او هغے د

بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِیْنَ ﴿١٢﴾ ع

د خبرو | د رب خپل | او د هغه د کتابونو | او دا وه | له فرمانبردارو نه

خپل رب خبرے او کتابونه ومنل او هغه له فرمانبردارو نه وه

وقف لازم

ع ٢٠

القرآن الكريم

آسان ترجمه

تعلیم القرآن

تکی په تکی
او روانه ترجمه

مولف:- ډاکټر محمد دین

سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورۂ ملک په مکه کښے نازل شوا و په | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | دے کښے ۳۰ آیتونه او ۲ رکوع دی

د الله په نامه شروع چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ۝١

برکت والا دے | هغه ذات | چه په لاس د هغه کښے | حکومت دے | او دے | په هر څیز باندې | قادر دے ـ

ډیر برکت خاوند دے هغه (خدائے) چه په لاس کښے ئے ټول حکومت دے او هغه په هر څه قدرت لری ـ

الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا

چا چه | پیدا کړو | مرګ | او ژوند | چه و آزمائی تاسو | چه څوک په تاسو کښے | زیات ښه دے | په عمل کښے

(خدائے) هغه ذات دے چه مرګ او ژوند ئے پیدا کړل چه تاسو و آزمائی چه په عمل کښے څوک غوره دے

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ۝٢ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا مَا تَرٰى

او دے دے | غالب | او بخښونکے | هغه چا چه | پیدا کړل | اووه | آسمانونه | د یو بل د پاسه | ته به نه وینې

او هغه ډیر زبردست ډیر بخښونکے دے چه اووه آسمانونه ئے لاندې باندې پیدا کړل ، ته به د

فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰى

د خدائے په پیدا وښت کښے | څه فرق | نو ته بیا نظر واچوه | آیا | ته وینې

رحمٰن (خدائے) په پیدا وښت کښے هیڅ فرق ونه وینې ، نو ته بیا نظر واچوه چه څه خلل درته

مِنْ فُطُوْرٍ ۝٣ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا

څه خلل | بیا | نظر واچوه | دوباره | پسته به شي | ستا طرف ته | سترګه | ذلیله

ښکاری ؟ بیا په بار بار نظر واچوه ، سترګه به د ذلیله او ستومانه

وَّهُوَ حَسِيْرٌ ۝٤ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَجَعَلْنٰهَا

او هغه به ستړې شوې وي | او بیشکه | ښائسته کړو مونږ | آسمان | د دنیا | په ډیوو سره | او مونږ جوړ کړي دا

پسته شی ـ او بیشکه مونږ د دنیا آسمان (د ستورو) په ډیوو سره ښائسته کړو ، او هغه مو د

رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ۝٥ وَلِلَّذِيْنَ

د ویشتلو آلے | د شیطانانو د پاره | او مونږ تیار کړے دے | دوی د پاره | عذاب | د دوزخ | او د پاره د هغه کسانو

شیطانانو د ویشتلو ذریعه کړے ، او هغوی له مو د دوزخ عذاب تیار کړے دے ـ او څوک چه د

كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝٦ اِذَآ اُلْقُوْا

چه منکر دی | د رب خپل | عذاب | د دوزخ دے | او بد دے | ځائے د واپس تلو | هر کله چه به | دوی واچولے شي

خپل رب نه انکار کوی هغوی له د دوزخ عذاب مقرر دے او هغه ډیر خراب ټیکا ونه دے تحه وخت چه دوی دوزخ

فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّهِيَ تَفُوْرُ ۝٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ

په هغې کښے | نو دوی به آوری | د هغې | چغې | او هغه به | جوش وهي | نزدے ده | چه و به شلیږی | له ډیره قهره

ته ارتاؤ کړے شي نو کړزار به ئے آوری او هغه (دوزخ) دا سے به ایشیږی لکه چه د ډیره قهره به وشلیږی

كُلَّمَآ اُلۡقِىَ فِيۡهَا فَوۡجٌ سَاَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ اَلَمۡ يَاۡتِكُمۡ نَذِيۡرٌ ﴿٨﴾

هر وارے چه | وا چولے شي | په هغې کښې | یو ډله | نو تپوس به کوي دوئ | ځوکیدارانِ د هغې | آیا نه وو راغلے تاسو ته | ویروونکے

هر وخت چه یو ټولے ورته دغورزولے شي نو محافظ فرښتې به ترې نه تپوس کوي چه آیا تاسو ته څوک ویروونکے نه دو راغلے

قَالُوۡا بَلٰى قَدۡ جَآءَنَا نَذِيۡرٌ ۙ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ

دوئ به ووائي | ولے نه | بیشکه راغلے وو مونږ ته | یو ویروونکے | نو مونږ دروغژن وګڼلو | او مونږ وویل | نه دے نازل کړے | الله

هغوئ به ووائي چه ولے نه! ویروونکے خو راته راغلے وو خو مونږ دروغژن وګڼلو او ورته مو وویل چه الله خو هیڅ څیز

مِنۡ شَىۡءٍ ۖۚ اِنۡ اَنۡتُمۡ اِلَّا فِىۡ ضَلٰلٍ كَبِيۡرٍ ﴿٩﴾ وَقَالُوۡا لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ

هیڅ څیز | نه یئ تاسو | مګر | په لویه ګمراهئ کښې | او دوئ به وائي | که چرې | مونږ اوریدلے وے

نازل کړے نه دے او تاسو پخپله په غټه غلطئ کښې پراته یئ. او دا به (هم) ورته ووائي چه که مونږ اوریدلے

اَوۡ نَعۡقِلُ مَا كُنَّا فِىۡۤ اَصۡحٰبِ السَّعِيۡرِ ﴿١٠﴾ فَاعۡتَرَفُوۡا بِذَنۡۢبِهِمۡ ۚ

یا پوهیدلے مونږ | نو نه به وُو مونږ | په دوزخیانو کښې | پس اقرار به وکړي | په ګناه خپلے

وے یا مو د عقل نه کار اخستے وے نو نن به دوزخیان نه وُو. غرض دا چه د جرم اقرار به وکړي.

فَسُحۡقًا لِّاَصۡحٰبِ السَّعِيۡرِ ﴿١١﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَيۡبِ لَهُمۡ

نو لعنت دِ وي | دوزخیانو دَ پاره | بیشکه | کوم خلق چه | ویریږي | دَ خپل رب نه | بے لیدو | هغوئ لره

نو په دوزخیانو باندې لعنت شه. څوک چه دَ خپل رب نه بے لیدو ویریږي، نو هغوئ

مَّغۡفِرَةٌ وَّاَجۡرٌ كَبِيۡرٌ ﴿١٢﴾ وَاَسِرُّوۡا قَوۡلَكُمۡ اَوِ اجۡهَرُوۡا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيۡمٌ ۢ

بخښنه ده | او اجر | ډیر لوئے | او تاسو پټه کړئ | خپله خبره | یا تاسو ښکاره کړئ هغه | بیشکه دے | پوهه دے

له بخښنه ده او لوئے اجر دے. او که تاسو پټه خبره وکړئ یا ښکاره ئې وکړئ، هغه دَ زړونو دَ

بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿١٣﴾ اَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيۡفُ الۡخَبِيۡرُ ﴿١٤﴾ ع

په راز | دَ سینو | آیا نه پوهیږي | هغه ذات چا چه پیدا کړل (ټول) | او دے دے باریک بین | خبردار

حال نه ښه واقف دے. آیا هغه به ترې نه خبر نه وي چا چه پیدا کړي دي؟ او هغه ډیر باریک بین په هر څه خبر دے.

هُوَ الَّذِىۡ جَعَلَ لَـكُمُ الۡاَرۡضَ ذَلُوۡلًا فَامۡشُوۡا فِىۡ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوۡا

هم دے دے چا چه | جوړه کړه | تاسو دَ پاره | زمکه | دَ استعمال قابله | پس روان شئ تاسو | دَ دے په لارو کښے | او خورئ

الله هغه ذات دے چا چه تاسو دَ پاره زمکه دَ استعمال قابله جوړه کړه دَ پاره دَ دے چه تاسو دِ په لارو کښے ئې ګرځئ راګرځئ او دَ الله

مِنۡ رِّزۡقِهٖ ؕ وَاِلَيۡهِ النُّشُوۡرُ ﴿١٥﴾ ءَاَمِنۡتُمۡ مَّنۡ فِى السَّمَآءِ

دَ دهٔ له رزق نه | او دَ دهٔ طرف ته دي | دوباره ورپاڅیدل | آیا تاسو بے ویرې یئ؟ | دَ هغه الله نه | چه په آسمان کښے دے

دَ رزق نه خورئ او هغه ته به بیا راژوندي کیږئ. آیا تاسو دَ دے نه بے غمه یئ چه څوک بره په آسمان کښے دے

اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمُ الۡاَرۡضَ فَاِذَا هِىَ تَمُوۡرُ ﴿١٦﴾ ۙ اَمۡ اَمِنۡتُمۡ مَّنۡ

چه دے ښکته ننباسي | تاسو | په زمکه کښے | بیا ناګهانه | دا په لړزیدو شي | آیا تاسو بے ویرے یئ | دَ هغه الله نه

چه هغه مو په زمکه کښے ورننباسي، نو هغه به ناګهانه ولړزیږي؟ آیا تاسو دَ دے نه بے غمه شوئ چه څوک

فِى السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿١٧﴾

چه په آسمان کښې دے | چه دے راولیږی | په تاسو باندې | د کاڼړو باران | پس زر به تاسو پوهه شئ | چه څنګه دی | ویرول زما ؟

چه په آسمان کښې دے هغه در باندې د کاڼړو باران راؤوروی نو تاسو ته به زر معلومه شي چه زما ویرول څنګه دی؟

وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿١٨﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا

او بیشکه دروغ ګڼلی وو | هغه کسانو | چه وړاندې له دوئ نه وو | پس څنګه شو | عذاب زما | او آیا نه دی کتلی دوئ

او د دوئ نه مخوا خلقو هم دروغژن ګڼلی وو ، بیا (وګوره چه په دوئ) زما عذاب څنګه شو ؟ آیا دوئ مرغه

اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ؔؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ؕ

مارغانو ته | د پاسه د ځپل ځان | خوروونکی د وزرو | او راټولوی | نه راټینګوی دوی لره | مګر | خدائے

مارغانو ته نه ګوری چه وزرے ئے خورې کړی وی او راغونډے کړے ئے وی ، دوئ د رحمٰن نه بغیر بل چا راټینګ کړی نه

اِنَّهٗ بِكُلِّ شَىْءٍۢ بَصِيْرٌ ﴿١٩﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِىْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ يَنْصُرُكُمْ

بیشکه دے | هر څیز ته | ګوری | آیا څوک دے | هغه ذات چه | هغه لښکر دے ستاسو | چه مدد وکړی ستا

دی هغه هر څیز وینی ګوری ـ آیا د رحمٰن نه سوا بل څوک دے چه ستاسو لښکر جوړ شي

مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِىْ غُرُوْرٍ ﴿٢٠﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِىْ

سوا | د رحمٰن نه | نه دی کافران | مګر | په دوکه کښې | آیا څوک دے | هغه ذات

او ستاسو امداد وکړی ـ دا کافران خو په غټه دوکه کښې پراته دی ـ آیا هغه څوک دے چه تاسو له

يَرْزُقُكُمْ اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ بَلْ لَّجُّوْا فِىْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿٢١﴾

چه روزی درکړی تاسو | که چرته | دے بند کړی | روزی خپله | بلکه | دوئ کلک انښتی دی | په سرکشۍ کښې | او نفرت (کښې)

روزی درکړی که الله درباندې خپله روزی بنده کړی ؟ مګر دا دی چه دوئ په سرکشۍ او په نفرت کښې کلک انښتی دی

اَفَمَنْ يَّمْشِىْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ اَهْدٰٓى اَمَّنْ يَّمْشِىْ سَوِيًّا

پس آیا هغه کس | چه روان وی | اړوے | په مخ خپل | ښه لار موندونکے دے | یا هغه کس چه روان وی | نیغ

آیا هغه کس چه پړمخے تګ کوی هغه په سمه لار دے ؟ یا هغه چه په هواره لاره سم

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ الَّذِىْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ

په لاره سمه باندې | دوایه | هم دے هغه ذات چه | پیدا ئے کړی تاسو | او جوړے کړل | تاسو د پاره

روان وی ؟ ته ورته ووایه چه الله هغه ذات دے چه تاسو ئے پیدا کړی او غوږونه

السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ الَّذِىْ

غوږونه | او سترګے | او زړونه | ډیر لږ | تاسو شکر کوئ | دوایه | هم دے | چا چه

او سترګے او زړونه ئے درکړل (خو) تاسو ډیر کم شکر اوباسئ ـ ورته اووایه چه الله هغه

ذَرَاَكُمْ فِى الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

خواره کړی تاسو | په زمکه کښې | او هم د ده طرف ته به | تاسو جمع کولے شئ | او دوئ وائی | چه کله به وی | دا

ذات دے چه تاسو ئے په زمکه خواره کړی او بیا به هغه ته جمع کیږئ ـ او دوئ وائی چه دا وعده به کله

الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۪ وَ

وعده | كه چرې تاسو | رښتيني يئ | ووايه | بيشكه (دا) علم | الله سره دے | او

پوره كيږي كه تاسو رښتيني يئ ؟ ورته ووايه چه (دا) علم خو الله سره دے ، او

اِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۶﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً سِيْٓـَٔتْ

بيشكه | زه | ويروونكے يم | ښكاره | بيا هر كله چه | دوئ ووينى دا | بالكل نزدے | نو وران به شي

زه خو بس يو ښكاره ويروونكے يم بيا چه دوئ قيامت نزدے ووينى ، نو د كافرانو

وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقِيْلَ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿۲۷﴾

مخونه | د هغه خلقو | چه كافران دي | او وبه ويلے شي | هم دا دى | هغه | چه تاسو به (په دنيا كښې) | غوښتل

مخونه به وران شي او ورته به وويلے شي چه دا هغه څيز دے چه تاسو به غوښتلو

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِيَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ

ووايه | آيا كتلي دي تاسو | كه چرے | هلاك كړي ما | الله | او هغه كسان | چه ما سره دي | يا په مونږ رحم وكړي | نو څوك دى

ته ورته ووايه چه ښه دا ووښايئ كه الله تعالىٰ ما او زما ملګري هلاك كړي يا را باندې رحم وكړي نو كافران

يُجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۸﴾ قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ

چه پناه وركړي | كافرانو ته | له عذاب | دردناك نه | ووايه | هم دے دے | ډير مهربان | ايمان راوړے دے مونږ په ده | او په ده

به د دردناك عذاب نه څوك بچ كوى . ته ورته ووايه چه هغه خدائے رحمٰن دے ، مونږ پرے ايمان راوړے دے او په

تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۹﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ

مونږ توكل كړے دے | پس زر به تاسو پوهه شئ | چه څوك دے | په ښكاره ګمراهئ كښې | ووايه | آيا كتلي دي تاسو

هغه مو توكل كړے دے ، تاسو ته به زر معلومه شي چه څوك په ښكاره ګمراهئ كښې دے ؟ ورته ووايه چه ښه دا ووښايئ

اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿۳۰﴾

كه چرے | شي | اوبه ستاسو | ورکې | نو څوك به | راولي تاسو ته | اوبه | روانے

كه ستاسو اوبه ښكته غائبې شي ، نو څوك به درله د چينې اوبه راولي ؟

سُوْرَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة قلم په مكه كښې نازل شوه او په دے كښې ۵۲ آيتونه او ۲ ركوعه دي

(شروع) د الله په نامه چه ډير مهربان ډير زيات رحم كوونكے دے

د الله په نامه شروع كوم چه ډير مهربان د ډير زيات رحم خاوند دے

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ﴿۱﴾ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ﴿۲﴾ وَاِنَّ

نٓ | قسم دے په قلم | او په هغه څه | چه ليكي ئے فرښتے | نه يئے ته | په فضل د رب خپل | ليونے | او بيشكه

نٓ په قلم باندې قسم دے او په هغې چه (فرښتے) ئے ليكي ، ته د خپل رب په فضل ليونے نه يئے . او تا له

لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ﴿۳﴾ وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ﴿۴﴾

تا د پاره | اجر دے | نه ختميدونكے | او بيشكه ته | په خوئ | اوچت يئے

دا سے اجر مقرر دے چه خلاصيدونكے نه دے او ته د اخلاقو په اوچته مرتبه يئے .

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ ۝٥ بِأَييِّكُمُ الْمَفْتُونُ ۝٦ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ

پس ته به زر وُوینې | او دوی به هم وُوینی | چه څوک له تاسو نه | لیونے دے | بیشکه ستارب | | ښهٔ پوهه دے

نو ته به هم ژر ووینې او دوی به هم ووینی چه په تاسو کښې څوک لیونے دے. بیشکه ستا رب ښهٔ پوهه دے چه

بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ۝٧ فَلَا تُطِعِ

په هغه چا | چه گمراه شو | د دهٔ د لارے نه | او هم دے | ښهٔ پوهه دے | په لار د موندونکو | پس ته خبره مهٔ منه

څوک د لارے نه بے لارے شوے دے او هغهٔ ته په سمه لار د روان خلق ډیر ښهٔ معلوم دی، نو ته د دروغ

الْمُكَذِّبِينَ ۝٨ وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ۝٩ وَلَا تُطِعْ كُلَّ

د دروغ گنړونکو | دوی غواړی | چه کاش ته نرمی وُکړے | نو دوی به هم نرمی وکړی | او ته خبره مهٔ منه | د هر

گنړونکو خبره مهٔ منه. دوی خو دا غواړی چه ته نرم شے نو دوی به هم نرم شی. او د داسے کس خبره هم مهٔ

حَلَّافٍ مَّهِينٍ ۝١٠ هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ ۝١١ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ

ډیر قسم خوړونکی | ذلیله | د هر عیب کوونکی | هر گرزندهٔ | چغل خور | منع کوونکی | د نیک کار | له حده تیریدونکی

منه چه غټ قسم خور دے (او) ذلیله دے عیب لگو دے، گرزنده چغل خور دے، د نیکئ د کار و نه منع کوونکے دے له حده

أَثِيمٍ ۝١٢ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ۝١٣ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ۝١٤ إِذَا تُتْلَىٰ

گناهګار | بد مزاجه | پس له دے نه | بد اصله | ځکه چه دے دے | خاوند د مال | او د ځامنو | هر کله چه لوستلے شی

تیریدونکے دے غټ گناهګار دے، بد خویه دے د دے تولو نه علاوه بد ذاته دے دا ځکه چه د مال او د اولاد خاوند دے. څهٔ وخت چه زمونږ

عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ۝١٥ سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ ۝١٦

په دهٔ باندې | زمونږ آیتونه | نو وائی | چه افسانے دی | د پخوانو خلقو | مونږ به زر داغ ورکړو دهٔ ته | په پوزه

آیتونه ورته ولوستلے شی نو وائی چه دا خو د پخوانو خلقو افسانے دی، مونږ به ورله زر په پوزه داغ ولګوو.

إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا

بیشکه مونږ آزمائیلی دی دوی | لکه چه | مونږ آزمائیلی وُو | خاوندان د باغ | هر کله چه دوی قسم وخوړو

مونږ د دوی داسے آزمیښت کړے دے لکه د باغ د خاوندانو آزمیښت چه مو کړے وو. چه هغوی قسم خوړلے

لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ۝١٧ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ۝١٨ فَطَافَ عَلَيْهَا

چه دوی به ضرور پریکوی (د د میوه) | سحر وختی | او دوی "انشاء الله" وُنه وئیل | پس وُچورلید و | په دے (باغ) باندې

وو چه میوه به ترے نه سحر وختی پریکوُو. او انشاء الله ئے هم و نه وئیلو، نو په دغه باغ ستا د رب د

طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُونَ ۝١٩ فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ۝٢٠

یو چورلیدونکے (آفت) | ستا د رب له طرفه | او دوی | اُوده | وُو | پس شو دغه (باغ) | په شان د ریبلی شوی فصل

طرف نه یو چورلیدونکے عذاب وُچورلید و چه هغوی لا اوده پراته وُو، نو هغه باغ داسے پاتے شو لکه ریبلے شوے پټے.

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ ۝٢١ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ

نو دوی یو بل ته آواز وکړو | د سحر کیدو وسره | چه تاسو سحر وختی لاړ شئ | خپل پټی ته | که چرے | یئ تاسو

نو هغوی صبا یو بل ته نعرے کړے - چه خپل پټی ته وختی ورسیږئ که میوه پټولو

صٰرِمِيْنَ ﴿۲۲﴾ فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿۲۳﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا
میوه راټولونکی | پس دوی روان شول | او دوی | یو بل سره پټ پټ خبرې کولې | چه هیڅ کله داخل نه شي
غواړئ ۔ غرض دا چه ټول روان شول او پټ پټ خبرې ئې کولې چه (کوره) نن تاسو ته څوک مسکین

الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ ﴿۲۴﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ فَلَمَّا
نن ورځ | په تاسو | څوک مسکین | او دوی سحر وختي راووتل | ډیر په اهتمام | چه برلاسي ؤو | بیا هر کله چه
را نه شي ، او په خپل قدرت (او تدبیر) غاړه په تیزۍ سره سحر وختي ورسیدل نو چه دا

رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿۲۶﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿۲۷﴾ قَالَ
دوی ولیده هغه | نو وې وئیل | بیشکه موږ لاره هیره کړې ده | بلکه موږ خو | بې نصیبه یو | وو وئیل
(تباه شوی باغ) ئې ولیده نو وې وئیل چه (غالبًا) موږ لار هیره کړې ده ۔ بلکه زښتیا دا ده چه قسمت موږ نه شوی دی. په هغوی

اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿۲۸﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ
منځنی په دوی کښې | آیا ما نه ؤو وئیلی تاسو ته | چه ولې تاسو تسبیح نه کوئ | دوی وو وئیل | پاک دے | زموږ رب
کښې څه قدر ښه سړي دا وو وئیل چه ما درته دا نه ؤو وئیلی چه د الله پاکي ولې نه بیانوئ؟ بیا ئې وو وئیل پاک دے زموږ ربّ

اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿۳۰﴾
بیشکه هم موږ ؤو | ظالمان | پس را مخامخ شول | ځینې د دوی | په ځینو باندې | چه ملامت کول دوی یو بل
بیشکه هم موږ خطا کار ؤو ۔ بیا ئې یو بل ته وکتل او الزامونه لګول ئې شروع کړل ۔

قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا طٰغِيْنَ ﴿۳۱﴾ عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا
دوی وو وئیل | اے هلاکته زموږ | بیشکه ؤو موږ | له حده تیریدونکي | امید دے | چه رب زموږ | بدل له راکړي موږ ته | غوره
بیا ئې وو وئیل اے زموږ بدې نصیبه! هم موږ له حده تیریدونکي ؤو ۔ امید دے چه موږ له خپل رب د دے نه غوره (باغ) په

مِّنْهَآ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ ﴿۳۲﴾ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ۭ وَلَعَذَابُ
له دې (باغ) نه | بیشکه موږ | خپل رب طرف ته | رجوع کوونکي یو | د غه شان (دی) | عذاب | او خامخا عذاب
بدل کښې راکړي بیشکه موږ خپل رب ته رجوع کوو ۔ عذاب (چه دا ئې نو) داسې راځي ۔ او د اخرت عذاب

الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۳﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ
د اخرت | ډیر لوئے دے | کاش | چه دوی پوهیدے ۔ | بیشکه | پرهیزګارانو د پاره | د دوی د رب سره
خو ډیر لوئے دے، کاش! که دوی پرے پوهیدلے ۔ د پرهیزګارانو د پاره خپل رب سره د آرام

جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۳۴﴾ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ﴿۳۵﴾ مَا لَكُمْ
باغونه | د نعمت دی | نو آیا موږ به کړو | مسلمانان | په شان د مجرمانو | په تاسو څه وشول؟
باغونه دی ، نو آیا موږ به منونکي د مجرمانو سره سم کړو ؟ دا په تاسو څه شوی دی؟

كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۶﴾ اَمْ لَكُمْ كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ
تاسو څنګه فیصله کوئ؟ | آیا تاسو سره | (څه) کتاب دے | چه په هغې کښې | تاسو تلاوت کوئ | (چه) بیشکه
دا تاسو څنګه فیصلې کوئ؟ آیا تاسو سره (آسماني) کتاب شته چه تاسو په کښې (حکمونه) لولئ؟ چه په هغې کښې

لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ اَمْ لَكُمْ اَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ

تاسو دَ پاره | په کښې دی | هغه څه چه | تاسو ئې خوښوئ | آیا تاسو دَ پاره | څه پخه وعدې دی | زمونږ په ذمه | چه رسیدونکې ده

ستاسو دَ خوښې څیزونه لیکلی (پراته) دی۔ یا زمونږ په ذمه ستاسو په حقله قسمونه (خوړلی) پراته دی

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ اِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ اَيُّهُمْ

تر ورځې دَ قیامت | بیشکه | تاسو دَ پاره (به وی) | هغه څه | چه تاسو ئې کوئ | تپوس وکړه له دوی نه | چه څوک له دوی

چه تر قیامته به باقی پاتې وی (او) تاسو ته به دَ خپلو فیصلو مطابق (نعمتونه) ورکړے شی؟ تپوس ترې نه وکړه چه

بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ۚ فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ

دَ دې خبرې | دعویدار دے | آیا دوی دَ پاره | شریکان دی | پس راد ې ولی | شریکان خپل | که چرې

په دوی کښې څوک دَ دې ذمه وار دے؟ یا دوی (دَ الله) څوک شریکان مقرر کړی دی که دا سے وی نو راولی دی چه دوی خپل شریکان راولی

كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّيُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ

وی دوی رښتیا ویونکی | په هغه ورځ | چه ښکاره کړے شی | پنډۍ | او دوی به راوبللے شی | سجدو دَ پاره

که چرے دوی رښتینی وی۔ هغه ورځ (دَ هیرے نه ده) چه پنډۍ به بربنډ کړے شی او دوی به سجدې ته راغوښتے شی

فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٤٢﴾ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۗ

نو دوی به نه شی کولے | ټیټې به وی | سترګې دَ دوی | خوره به وی په دوی باندې | ذلت

خو سجده به کولے نه شی۔ سترګې به ئې ټیټې وی، ذلت به پرې راغوړیدلے وی

وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَذَرْنِيْ وَمَنْ

او دوی به رابللے شول (په دنیا کښې) | دَ سجدو طرف ته | او دوی | ښه روغ رمټ وو | پس پریږدئ ما | او هغه څوک

حال دا دے چه (په دنیا کښې) دوی به دَ سجدې طرف ته رابللے شول او ښه روغ رمټ وو نو ته پریږده ما او دا

يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ؕ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٤﴾ ۙ

چه دروغ ګنړی | دا | خبره | مونږ به رو رو راکاږو دوی | داسے چه دوی | پرې نه پوهیږی۔

کلام دروغ ګڼړونکی، مونږ دوی رو رو داسے ځائے ته وراننه کوو چه دوی ته خبر هم نشته

وَاُمْلِيْ لَهُمْ ؕ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿٤٥﴾ اَمْ تَسْــَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ

او زه مهلت ورکوم | دوی ته | بیشکه | زما تدبیر | ډیر زبردست دے | آیا | ته غواړے له دوی نه | څه اجر | پس دوی

او زه دوی ته مهلت ورکوم بیشکه زما تدبیر ډیر پوخ دے آیا ته له دوی نه څه اجر غواړے چه دوی دَ هغه

مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿٤٦﴾ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿٤٧﴾

له تاوان نه | درانه دی | یا | دوی سره | دَ غیبو (خبر) دے | چه دوی | دا لیکی

دَ تاوان (اداکولو) نه عاجزه دی؟ یا دوی سره دَ غیبو څه خبر دے چه دوی ئې هغه لیکی۔ نو

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوْتِ ۘ اِذْ نَادٰى

پس ته صبر کوه | دَ پاره دَ حکم | دَ رب خپل | او مه کیږه | په شان دَ خاوند دَ ماهی | کله چه ده آواز وکړو

ته دَ خپل رب حکم ته صابره کښینه۔ او دَ ماهی دَ خاوند (یونس ؑ) په شان مه کیږه چه خپل رب ته ئې آواز وکړو

ركوع ١٥ | وقف لازم

وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾ لَوْلَآ أَن تَدَارَكَهُۥ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ لَنُبِذَ بِٱلْعَرَآءِ
او دے له غم نه ډک وو | که چرې رانه نیوی دا تینګ کړے نه وے | فضل | د رب خپل | نو غورزولے شوے به وو | په ډاګه میدان
او په غم کښے ډوب وو ۔ که د خپل رب نعمت را تینګ کړے نه وے نو په ډاګه میدان به غورزیدلے پروت

وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾ فَٱجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِن
او دے | په بد حاله وو | پس دے غوره کړو | رب د ده | پس دے ئے کړو | له نیکانو نه | او بیشکه
وو او په بد حال به اخته وو، نو بیا خپل رب هغه (نور) غوره کړو او په صالحانو کښے ئے شمیر کړو. او دا منکاری

يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَٰرِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا۟ ٱلذِّكْرَ
نزدے ده | چه کافران | وښویوی تا | په (تیزو) سترګو خپلو | هر کله چه | دوی اوری | قرآن
چه دا کافران به تا د سترګو په نظر وښویوی ، څه وخت چه دوی قرآن واوری

وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٢﴾
او دوی وائی | بیشکه دے خو | لیونے دے | او نه دے دا (قرآن) | مګر نصیحت | د ټولو جهانونو د پاره
او دوی وائی چه دا خو لیونے دے، حال دا دے چه دا قرآن خو د ټولو جهانونو د پاره نصیحت دے

سُورَةُ ٱلْحَآقَّةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ٱثْنَتَانِ وَخَمْسُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ
بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ
سوره حاقه په مکه کښے نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ۵۲ آیتونه او ۲ رکوع دی
د الله په نامه شروع چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

ٱلْحَآقَّةُ ﴿١﴾ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴿٢﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴿٣﴾ كَذَّبَتْ
ضرور رواقع کیدونکے دے | څه دے هغه واقع کیدونکے | او تا ته څه معلومه ده | چه څه دے واقع کیدونکے | دروغ ګڼلے وو
هغه ضرور واقع کیدونکے دے هغه واقع کیدونکے څیز څه دے؟ او تا ته څه معلومه ده چه هغه واقع کیدونکے څیز څه دے؟ ثمود او عاد

ثَمُودُ وَعَادٌۢ بِٱلْقَارِعَةِ ﴿٤﴾ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا۟ بِٱلطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾
(قوم د) ثمود | او عاد | ټکوونکی (قیامت) لره | پس ثمود چه وو | پس هلاک کړے شول | په یوه چغه
(دواړو) هغه ګړزیدونکے واقعه دروغ ګڼله. نو ثمود چه وو هغوی خو په یوه چغه تباه کړے شول.

وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا۟ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿٦﴾ سَخَّرَهَا
او (قوم د) عاد چه وو | پس دوی هلاک کړے شول | په باد | سخت | له حد نه تیر شوی | مقرر کړے وو الله دا
پاتے شو عاد نو هغوی مو په یو داسے تیز باد هلاک کړل چه ډیر تند وو. الله تعالیٰ په دوی باندے

عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى ٱلْقَوْمَ فِيهَا
په دوی باندے | اووه | شپے | او اته | ورځے | پرله پسے | پس کتل به تا | د دغه خلق | په دے کښے
دغه تیز باد اووه شپے او اته ورځے پرله پسے والوزولو ، نو ته به په کښے هغه خلق داسے

صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿٧﴾ فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٍ ﴿٨﴾
په زمکه پریوتلی | لکه چه دوی | تنے دی | د قجورو | د ډډے | نو آیا | ته وینے | د دوی | څه باقی پاتے شوی
راغورزیدلی وینے لکه د غورزیدلو قجورو ډډے تنے، بیا آیا ته په دوی کښے څوک باقی پاتے وینے؟

وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ﴿٩﴾ فَعَصَوْا

اوراغی | فرعون | او له دهٔ نه وړاندې خلق | او د اُلټه شوو کلو خلق | په ګناه سره | پس دوی نافرماني وکړه

او فرعون او دَ هغهٔ نه وړاندې نور خلقو او دَ اوړیدو کلو خاوندانو (غټ غټ) جرمونه وکړل ۔ نو ټولو دَ خپل رب دَ

رَسُوْلَ رَبِّهِمْ فَاَخَذَهُمْ اَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿١٠﴾ اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ

دَ خپل رب دَ رسول | نو الله ونیول دوی | په نیولو | مضبوط سره | بیشکه موږ | هرکله چه | له حده تیر شو | اوبهٔ

پیغمبر نافرماني وکړه ، نو الله تعالیٰ ډیر کلک راونیول ، هرکله چه اوبهٔ زیاتې شوې نو تاسو

حَمَلْنٰكُمْ فِي الْجَارِيَةِ ﴿١١﴾ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّتَعِيَهَآ اُذُنٌ

نو موږ سواره کړئ تاسو | په روانه کشتۍ کښې | چه موږ وګرځوو دا | تاسو دپاره | یو نصیحت | او یاد وساتي دا | غوږونه

موږ په کشتۍ کښې سواره کړئ ، چه دا واقعه تاسو له یادګار کړو ، او یاد ساتونکي غوږونه

وَّاعِيَةٌ ﴿١٢﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ وَّحُمِلَتِ الْاَرْضُ

یاد ترونکي | پس هرکله چه | پوک به ووهلې شي | په شپیلۍ کښې | پوک | یو ځل | او را اوچته کړې شي | زمکه

ئې یاد وساتي ، غوږ دا چه یو ځل شپیلۍ پوک ووهلې شي ۔ او زمکه او غرونه

وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ﴿١٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾

او غرونه | پس ریزه ریزه به کړې شي | په یو ځل ریزه کولو سره | پس په دغه ورځ به | واقع شي | واقع کیدونکې

اوچت کړې شي نو دواړه په یو وار ذره ذره کړې شي ، نو په هغې ورځ کیدونکې څیز به اوشي ۔

وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ﴿١٦﴾ وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا

او وبه څیرې | آسمان | پس هغه به | په دغه ورځ | سست شوې وي | او فرښتې (به وي) | دَ هغې په غاړو باندې

او آسمان به وشلیږي او هغه به په دغه ورځ ډیر کمزورے وي ۔ او فرښتې به دَ دې په غاړو ولاړې وي

وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ

او اوچت کړے به وي | عرش | ستا دَ رب | دَ پاسه دَ دوی | په دغه ورځ | اته (فرښتو) | په دغه ورځ به | تاسو راوړاندې کړے شئ

او ستا دَ رب عرش به په دغه ورځ اتو تنو (فرښتو) دَ ځان دَ پاسه اوچت کړے وي ۔ په کومه ورځ چه تاسو پیش کړے

لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ

پټ به پاتې نه شي | ستاسو | څهٔ راز | نو چا ته چه | ورکړے شي | عمل نامه دَ دهٔ | دَ دهٔ په ښي لاس کښې

شئ نو ستاسو هیڅ خبره به پټه پاتې نه شي ، نو چا ته چه عملنامه په ښي لاس کښې ورکړے شي

فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾

نو هغه به وائي | دا خلئ | ولولئ | زما عمل نامه | بیشکه ما | ګمان | چه زهٔ ملاویدونکے یم | خپل حساب سره

نو هغه به وائي چه راشئ زما عملنامه ولولئ ۔ زهٔ په دے پوهه وم چه زهٔ به خپل حساب بیا مومم

فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾ قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوْا

نو هغه به وي | په عیش کښې | دَ خوښې | په باغ | اوچت کښې | چه میوے دَ هغې به | راټیټې وي | خورئ

نو هغه به دَ مزے په عیش کښې اوسیږي ، په اوچت جنت کښې به وي چه میوے به ئے راټیټې وي | خورئ

وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِى الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿۲۴﴾ وَاَمَّا مَنْ

او څښئ | خوندناک | په بدل د هغې | چه وړاندې لیږلې دی تاسو | په ورځو | تیرو شوو کښې | او هر هغه کس چه

څښئ په مزه د هغې اعمالو په بدل کښې چه په تیرو ورځو کښې مو کړي دي ، او چاته چه عملنامه

اُوْتِىَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِىْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿۲۵﴾

ورکړے شي | عملنامه د هغه | په کس لاس کښې د هغه | نو هغه به وائي | اے کاش | چه نه وے راکړے شوے ماته | عملنامه زما

په کس لاس کښې ورکړے شي ، نو هغه به وائي چه څه ښه به وه که دا عملنامه هیڅ راکړے شوے نه وے

وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿۲۶﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿۲۷﴾ مَآ اَغْنٰى عَنِّىْ

او زه نه پوهیدلے | چه زما حساب څه دے؟ | کاش! (مرګ) | وے | فیصله کوونکے زما | په کار را نغے | زما

او زه هیڅ خبر نه وے چه زما حساب څه دے ؟ اے کاش! چه مرګ زما له خلاصے کړے وے . مال خوم هیڅ هیڅ

مَالِيَهْ ﴿۲۸﴾ هَلَكَ عَنِّىْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿۲۹﴾ خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ

مال زما | برباد شو | له ما نه | حکومت زما | (نیسئ) دے | پس ځنځیر واچوئ ده ته | بیا | په دوزخ کښې

په کار رانغے . زما مرتبه هم لاړه راځنې . (حکم به وشي) دے ونیسئ او طوق ورته واچوئ . بیا ئے دوزخ ته

صَلُّوْهُ ﴿۳۱﴾ ثُمَّ فِىْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿۳۲﴾ اِنَّهٗ

داخل کړئ ئے | بیا | په یو زنځیر کښې | چه اوږدوالے د هغې | اویا | ګزه دے | دے وتړئ | بیشکه دا

ننباسئ . بیائے په داسے زنځیر کښے وتړئ چه د هغې اوږدوالے اویا ګزه دے . دا به په

كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴿۳۳﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿۳۴﴾

ایمان نه لرلو | په الله | لوئے | او نه به ده ترغیب ورکولو | د طعام ورکولو | مسکین ته

لوئے الله ایمان نه داوړو او مسکین ته به ئے د خوراک ورکولو ترغیب نه ورکولو

فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿۳۵﴾ وَّلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿۳۶﴾

پس نشته | د ده | نن ورځ | دلته | خوږ دوست | او نه طعام | سوا | د وینو زوو نه

پس نن ئے دلته خوږ دوست نشته ، او نه د وینو زوو نه علاوه د ده د پاره څه خوراک شته .

لَّا يَاْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخٰطِـُٔوْنَ ﴿۳۷﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَا ۴۷ع

نه به خوری هغه | مګر ګناهګاران | پس زه قسم خورم | په هغه څه | چه تاسو ئے وینئ | او په هغه څه ۵

چه د ګناهګارو نه سوا به ئے بل څوک نه خوري ، نو زه قسم خورم په هغه څیزونو چه تاسو ئے وینئ او کوم چه

لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴿۴۰﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ؕ

چه تاسو ئے نه وینئ | بیشکه دا (قرآن) | خبره ده | د فرښته | عزتمند دے | او نه دے دا | وینا | د شاعر

تاسو ئے نه وینئ . چه دا قرآن د یوے عزتمنے فرښتے راوړے کلام دے ، او د (چا) شاعر کلام نه دے .

قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾ تَنْزِيْلٌ

ډیر لږ | تاسو یقین کوئ | او نه دے وینا | د جادوګر دا | ډیر کم | تاسو غور کوئ | را نازل شوے دے

تاسو ډیر کم ایمان راوړئ . او نه د (چا) کاهن کلام دے ، تاسو ډیر کم پوهیږئ . دا د قول عالم د

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا

له طرفه د رب | د عالمونو | او که چېرې ترلې ده | په مونږ باندې | ځنې | خبرې | نو خامخا به نیولے وو مونږ

رب له طرف نه نازل شوے دے. او که دے پيغمبر زمونږ په ذمه ځنې خبرې لګولے وے ، نو مونږ به ترے

مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ

د ده | ښے لاس | بیا به | پرېکړې وو مونږ | د ده | رګ د زړه | پس نه به وو له تاسو نه | هيڅوک

ښے لاس نیولے وو ، بیا به موترے نه د زړه رګ پرېکړے وو - نو بیا به په تاسو کښې هيڅوک د دے

عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنَّا لَنَعْلَمُ

له ده نه | بچ کوونکے | او بیشکه دا | یو نصیحت دے | پرهيزګارانو د پاره | او بیشکه مونږ | پوهيږو

سزا نه بچ کوونکے نه وو. او دا قرآن پرهيزګارانو د پاره نصیحت دے او مونږ ښه پوهيږو چه په

اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنَّهٗ

چه ځنې له تاسو نه | دروغ ګڼړونکی دی | او بیشکه دا | ارمان دے | په کافرانو باندې | او بیشکه دا

تاسو کښې دروغژن ګڼړونکی هم دی. او دا قرآن د کافرانو په حقله سبب د پښیمانتیا دے او دا قرآن

لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٥٢﴾

برحق دے | په یقیني طور | پس پاکي یاده کړه | د خپل رب د نوم | چه لوئے دے

بالکل یقیني څیز دے نو (اے پيغمبره! ته) د خپل رب د نامے تسبیح وایه چه لوئے دے

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة معارج په مکه کښې نازل شوې | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښې ٤٤ آیتونه او ٢ رکوع دی

د الله په نامه شروع چه لوئے مهربان د ډېر زیات رحم خاوند دے

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ﴿١﴾ لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ

وغوښتلو | یو غوښتونکی | هغه عذاب | چه واقع کېدونکے دے | په کافرانو | نشته دے | د دے

یو سوال کوونکی د هغه عذاب د واقع کېدو په حقله تپوس وکړو چه په کافرو به واقع کيږی. او د هغې څوک دفع

دَافِعٌ ﴿٢﴾ مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ﴿٣﴾ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ

څوک دفع کوونکے | د الله له طرف نه | چه خاوند د مرتبو دے | چه پورته خيژی | فرښتے | او روح | د ده طرف ته

کوونکے نشته. د الله تعالیٰ د طرف نه به وی چه د اوچتو درجو مالک دے. فرښتے او روح به ورته ورخيژی په داسے ورځ

فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ﴿٤﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ﴿٥﴾

په هغه ورځ کښې | چه دے مقدار د هغې | پنځوس | زره | کاله | پس صبر کوه | صبر | ښه

کښې چه د هغې اندازه به پنځوس زره کاله وی ، نو ته صبر کوه او ښه صبر کوه.

اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ﴿٦﴾ وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ﴿٧﴾ يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ

بیشکه دوی | وینی هغه | لرے | او مونږ وینو هغه | نزدے | په هغه ورځ | چه شی به | آسمان

دوی ته دغه ورځ لرے ښکاری ، او مونږ ته نزدے ښکاری په دغه ورځ به آسمان د ویلی شوے

كَالْمُهْلِ ۝٨ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ۝٩ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيْمٌ
پشان د ویلې شوې تلخې | او شي به | غرونه | په شان د رنګه آرۍ وړۍ | او پوښتنه به نه کوي | (څوک) دوست
تانبې په شان وي. او غرونه به د رنګینې وړۍ په شان وي. او دوست به د دوست پوښتنه
حَمِيْمًا ۝١٠ يُّبَصَّرُوْنَهُمْ ۚ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِيْ مِنْ عَذَابِ
د بل دوست | دوی به کوري هغوی ته | غواړي به | مجرم | چه کاش! | د په بدله کښې ورکړي | له عذاب نه
نه کوي، سره د دې چه مخامخ به ورته ښودلې شي مجرم به په دغه ورځ ارزو کوي چه په څه طريقه د دغې ورځې د
يَوْمِئِذٍۢ بِبَنِيْهِ ۝١١ وَصَاحِبَتِهٖ وَاَخِيْهِ ۝١٢ وَفَصِيْلَتِهِ الَّتِيْ تُـْٔوِيْهِ ۝١٣
د دغې ورځې | خپل ځامن | او خپله ښځه | او خپل ورور | او خپله قبیله | هغه چه | پناه به ئې ورکوله دوی ته
عذاب نه د بچ کیدو د پاره (په بدله کښې) خپل ځامن ورکړي او خپله ښځه او خپل ورونړه هم او خپل خاندان په کوم کښې چه به دے
وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ ثُمَّ يُنْجِيْهِ ۝١٤ كَلَّا ۗ اِنَّهَا لَظٰى ۝١٥ نَزَّاعَةً
او هغه څوک | چه په زمکه کښې دي | ټول | بيا | خلاصے ورکړي ده ته | هیڅکله نه | بیشکه هغه خوړونکې اور دے | راویستونکے د
اوسیدو او د ټولے زمکے استوګن خلق، بیا خپل ځان بچ کړي، (خو) هیڅکله نه، هغه داسے شعله ده چه (د وغم)
لِّلشَّوٰى ۝١٦ تَدْعُوْا مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰى ۝١٧ وَجَمَعَ فَاَوْعٰى ۝١٨
د څرمنو | رابلي به | هغه څوک | چه شاته ګرځولې وي | او مخ ئې اړولے وي | او جمع ئې کړو (مال) | پس محفوظ ئې کړو
څرمن غورزوي. او هغه کس به ځان ته راغواړي چه شا کړے به ئې وه او مخ به ئې اړولو او مال ئې جمع کړو او هغه ئې سنبال کړو
اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا ۝١٩ اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا ۝٢٠ وَّاِذَا
بیشکه انسان | پیدا شوے دے | بے صبره | هر کله چه | ورسیږي ده ته | تکلیف | نو فریاد کوونکے وي | او هر کله چه
یقیناً انسان بے صبره پیدا شوے دے، هر کله چه ورته تکلیف ورسیږي نو فریاد نه کوي، او چه دولت
مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا ۝٢١ اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ ۝٢٢ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ
ورسیږي ده ته | خیر | نو شومتیا کوي | مګر | مونځ ګزار (خلق) | هغه کوم چه | په خپلو مونځونو باندې
ورته ملاؤ شي نو شومتیا کوي سوا د هغه مونځ ګزارو نه چه خپل مونځونه همیشه ادا
دَآئِمُوْنَ ۝٢٣ وَالَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ۝٢٤ لِّلسَّآئِلِ
همیشه قائم وي | او هغه خلق چه | په مالونو د هغوی کښې | حق | مقرر دے | د پاره د سوال کوونکي
کوي او د کومو په مالونو کښې چه حق مقرر دے د سوال کوونکو
وَالْمَحْرُوْمِ ۝٢٥ وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۝٢٦ وَالَّذِيْنَ هُمْ
او د بے نوا | او هغه خلق چه | تصدیق کوي | د ورځے د جزا | او هغه خلق چه هغوی
او د محتاجانو. او هغه خلق چه د بدلے په ورځ یقین ساتي او کوم چه د
مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ۝٢٧ اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ۝٢٨
له عذاب نه | د رب خپل | ویرېږي | بیشکه | عذاب د رب د دوی | بے خطرے نه دے
خپل رب د عذاب نه ویرېږي، حقیقت دا دے چه د دوی د رب عذاب ډیر خطرناک دے

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَا مَلَكَتْ
او هغه خلق چه | دوئ | دَ شرمګاهونو خپلو | حفاظت کوونکی دی | مګر | دَ خپلو ښځو سره | یا هغو سره چه مالکه دی
او څوک چه دَ خپل شرمګاه خیال ساتی. خو هغه! کوم دَ ښځو او وينځو نه ئے حفاظت
اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ
دَ دوئ ښي لاسونه (وينځے) | نو بیشکه دوئ بانی | هیڅ ملامته نشته | پس څوک چه | غواړی | دَ دے نه سوا
نه کوی نو په دے ملامته نهٔ دی. نو څوک چه دَ دے نه سوا خواهش وُکړی
فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿٣١﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ﴿٣٢﴾
پس دغه ډله | هم دوی دی | له حد نه تیریدونکی | او هغه کسان | چه دوئ دَ امانتونو خپلو | او دَ وعدو خپلو | لحاظ ساتونکی دی
نو هم داسے خلق له حد نه تیریدونکی دی. او څوک چه دَ خپلو امانتونو او وعدو خیال ساتی.
وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ قَآئِمُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ
او هغه خلق چه دوئ | په ګواهو خپلو | قائم وی | او هغه خلق چه دوئ | دَ مونځونو خپلو
او په خپلو ګواهو باندے ټینګ ولاړ وی. او هغه چه دَ خپلو مونځونو حفاظت
يُحَافِظُوْنَ ﴿٣٤﴾ اُولٰٓئِكَ فِىْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٣٥﴾ فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
حفاظت کوی | هم داخلق | په باغونو کښے به وی | عزتمند به وی | پس څهٔ وشول | په کافرانو
کوی. هغوئ به په جنتونو کښے په عزت ورننوزی. په دے کافرانو څهٔ چل شوے دے
قِبَلَكَ مُهْطِعِيْنَ ﴿٣٦﴾ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِيْنَ ﴿٣٧﴾ اَيَطْمَعُ
چه ستا طرف ته | رامنډے کوی | له ښی طرف نه | او دَ ګس طرف نه | ډلے ډلے شوے | آیا طمع کوی
چه ستا طرف ته رامنډے کوی. دَ ښی اړخ او دَ ګس غاړے نه ټولی ټولی جوړیږی. آیا په دوئ کښے
كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيْمٍ ﴿٣٨﴾ كَلَّا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ
هر کس | له دوئ نه | چه داخل به کړے شی | په باغ دَ نعمت کښے | هیڅ کله نه | بیشکه مونږ | پیدا کړل دوئ
هر کس دا اُمید لری چه دے به دَ نعمت په باغ کښے ورداخل کړی؟ نه هیچرے نه. مونږ دوئ دَ هغے څیز
مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ وَالْمَغٰرِبِ اِنَّا
له هغه څه نه | چه دوئ پرے پوهیږی | پس زهٔ قسم خورم | په ربّ | دَ مشرقونو | او مغربونو | بیشکه مونږ
نه پیدا کړی دی چه ټول ترے نه واقف دی. نو زما دِ قسم وی دَ مشرقونو او دَ مغربونو په رب چه مونږ دا
لَقٰدِرُوْنَ ﴿٤٠﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ ۙ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٤١﴾
خامخا قادر یو | په دَ خبره چه مونږ بدل کړو (مخلوق) | غوره | له دوئ نه | او نهٔ | یو مونږ | عاجزه
قدرت لرو، چه دَ دوئ په ځائے به دَ دوئ نه ښهٔ خلق راولو او مونږ څهٔ بے وسه خو نهٔ یو.
فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِىْ
پس پریږده دوئ | چه مشغول وی | او لوبے وکړی | تر دے چه | ملاقات وکړی | دَ ورځے خپلے هغه سره | دَ کومے چه
پس ته دوئ دغسے پریږده چه په خپلو لوبو کښے مشغول پراته وی تر څو چه هغه ورځ ورته رامخکښے شی دَ کومے چه ورسره

ع ٢

يُوْعَدُوْنَ ۝٤٢ يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ سِرَاعًا كَاَنَّهُمْ

دوی سره وعده کولے شی | په هغه ورځ | چه راوبه ځی دوی | له قبرونو نه | په منډه | لکه چه دوی

وعده شوے ده . په کومه ورځ چه به د خپلو قبرونو نه په منډه منډه راوځی داسے چه لکه دوی

اِلٰى نُصُبٍ يُّوْفِضُوْنَ ۝٤٣ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ

د یوے نخښے طرف ته | منډے وهی | ټیټے به وی | سترګے د دوی | خوربه وی په دوی | ذلت

د یوے نخښے طرف ته منډے وهی (په دغه ورځ به) د دوی سترګے ټیټے وی او ذلت به په دوی راخوروی

ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ۝٤٤

دا ده | هغه ورځ | د کومے چه | د دوی سره وعده کولے شی

هم دغه خو هغه ورځ ده د کومے چه به دوی سره وعده کولے شوه.

ع ٢ ٨

سُوْرَةُ نُوْحٍ مَّكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سوره نوح په مکه کښے نازل شوه | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښے ٢٨ آیتونه او ٢ رکوع دی

د الله په نامه شروع چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

اِنَّآ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَهُمْ

بیشکه مونږ لیږلے وو | نوح ؑ | د هغه د قوم طرف ته | چه اُویروه | خپل قوم | وړاندے له دے نه | چه راشی په دوی باندے

مونږ (حضرت) نوح ؑ خپل قوم ته ولیږلو ، چه ته خپل قوم اُویروه وړاندے له دے نه چه عذاب

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝١ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٢

عذاب | دردناک | ده ووئیل | اے زما قومه! | بیشکه زه | تاسو د پاره | ویروونکے یم | ښکاره

پرے راشی . هغه ورته ووئیل چه اے زما قومه ! زه تاسو د پاره صفا صفا ویروونکے یم.

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ۝٣ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ

چه عبادت وکړئ | د الله | او او یریږئ له ده نه | او حکم منئ زما | هغه به وبخښی | تاسو د پاره | ګناهونه ستاسو

چه د الله تعالیٰ بندګی کوئ او د هغه نه او یریږئ او زما خبره منئ . هغه به ستاسو ګناهونه معاف کړی

وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ اِذَا جَاۗءَ لَا يُؤَخَّرُ

وقف لازم

او وروستو به کړی تاسو | تر وخت | مقرر پورے | بیشکه مقرر وخت | د الله | هر کله چه | راشی | نو دا به نه شی وروستو کیدے

او تر ټاکلی وخت پورے به مهلت درکړی . یقیناً د الله ټاکلے وخت چه یو ځل راشی نو (په هیڅ) نه اړاولیږی

لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٤ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ دَعَوْتُ قَوْمِيْ لَيْلًا

کاش! | تاسو پوهیدے | ده ووئیل | اے زما ربه! | بیشکه ما راوبللو | قوم خپل | شپه

اے کاش! چه تاسو پوهیدے . (نوح ؑ) ووئیل اے زما ربه ! ما خپل قوم ته شپه او ورځ بلنه

وَّنَهَارًا ۝٥ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاۗءِيْٓ اِلَّا فِرَارًا ۝٦ وَاِنِّيْ كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ

او ورځ | پس زیات نه کړه دوی ته | بلنے زما | مګر | تیښته | او بیشکه ما هر وارے چه | راوبلل دوی

ورکړه . خو زما بلنے (دین ته) د هغوی تیښته نوره هم زیاته کړه . او ما چه هر ځل هغوی راوبلل

لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ جَعَلُوۡۤا اَصَابِعَهُمۡ فِیۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَاسۡتَغۡشَوۡا

چه ته وُ بخښې دوی | نوکېښودے دوی | ګوتے خپلے | په غوږونو خپلو کښے | او راتول کړے دوی

چه وُ ته بخښنه وُ کړے ، نو هغوئ خپلے ګوتے په غوږونو کښے ورکړے ، او دَ خپلو ځانونو او مخونو نه

ثِیَابَهُمۡ وَاَصَرُّوۡا وَاسۡتَکۡبَرُوا اسۡتِکۡبَارًا ۚ﴿٧﴾ ثُمَّ اِنِّیۡ دَعَوۡتُهُمۡ

جامے خپلے | او ضد ئے وکړو | او غرور ئے وکړو | ډیر لوئے | بیا بېشکه ما | راوُبلل دوئ

جامے راتاوُ کړے او (په خپله خبره) ټینګ شول او ځان ئے ډیر غټ وګڼلو ، بیا ما هغوئ په اُوچت آواز

جِهَارًا ۙ﴿٨﴾ ثُمَّ اِنِّیۡۤ اَعۡلَنۡتُ لَهُمۡ وَاَسۡرَرۡتُ لَهُمۡ اِسۡرَارًا ۙ﴿٩﴾ فَقُلۡتُ

په اُوچت آواز | بیا بېشکه ما | په ښکاره وُوئیل | دوئ ته | او په پټه مې ووئیل | دوئ ته | په پټه | پس ما ووئیل

راوُبلل ، بیا مې په ښکاره هم پوهه کړل ، او ډیر په پټه مې هم پوهه کړل ۔ نو ورته مې وُوئیل

اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّکُمۡ ؕ اِنَّهٗ کَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾ ۙ یُّرۡسِلِ السَّمَآءَ عَلَیۡکُمۡ

بخښنه غواړئ | دَ خپل رب نه | بېشکه دے | دے | بخښونکے | دے به راوُلیږی | له آسمان نه | په تاسو باندې

چه دَ الله نه معافی غواړئ ، هغه ډیر زیات بخښونکے دے ۔ هغه به دربانډې له آسمانه ډیر

مِّدۡرَارًا ﴿١١﴾ ۙ وَّیُمۡدِدۡکُمۡ بِاَمۡوَالٍ وَّبَنِیۡنَ وَیَجۡعَلۡ لَّکُمۡ جَنّٰتٍ

پرله پسے باران | او مدد به وکړی ستاسو | په مالونو | او ځامنو سره | او جوړ به کړی | تاسو دَ پاره | باغونه

بارانونه ورُوی ، او دَ مالونو او دَ ځامنو په شکل کښے به ستاسو مدد وکړی او تاسو دَ پاره به باغونه جوړ کړی

وَّیَجۡعَلۡ لَّکُمۡ اَنۡهٰرًا ﴿١٢﴾ ؕ مَا لَکُمۡ لَا تَرۡجُوۡنَ لِلّٰهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾ ۚ وَقَدۡ

او جوړ به کړی | تاسو دَ پاره | نهرونه | په تاسو څه شوی دی | چه تاسو یقین نه کوئ | دَ الله | په لوئے والی | او حال دا دے

او نهرونه به درله وُ بهیوی ۔ دا په تاسو څه شوی دی چه دَ الله په لوئے والی یقین نه کوئ او حال دا چه

خَلَقَکُمۡ اَطۡوَارًا ﴿١٤﴾ اَلَمۡ تَرَوۡا کَیۡفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ

چه پیدا ئے کړئ تاسو | په څو څو شانه | آیا نه دی کتلی تاسو | چه څنګه | پیدا کړل | الله | اووهٔ | آسمانونه

هغهٔ په څو څو شان پیدا کړی یئ ۔ آیا تاسو نهٔ وینئ چه الله تعالیٰ څنګه اووهٔ آسمانونه لاندې باندې

طِبَاقًا ﴿١٥﴾ ۙ وَّجَعَلَ الۡقَمَرَ فِیۡهِنَّ نُوۡرًا وَّجَعَلَ الشَّمۡسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾

دَ یو بل دَ پاسه | او دهٔ جوړه کړله | سپوږمئ | په دے کښے | روښانه | او جوړ ئے کړلو | نمر | ډیوه

جوړ کړی دی ، او سپوږمئ ئے پکښے روښانه او نمر ئے پکښے ډیوه کړے دے ۔

وَاللّٰهُ اَنۡۢبَتَکُمۡ مِّنَ الۡاَرۡضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾ ۙ ثُمَّ یُعِیۡدُکُمۡ فِیۡهَا وَیُخۡرِجُکُمۡ

او الله | راوُ ټوکولی تاسو | له زمکے نه | په راټوکولو سره | بیا به واپس کړی تاسو | په دے کښے | او بیا به راوُباسی تاسو

او الله تاسو دَ زمکے نه په خاص طریقه راټوکولی یئ ، بیا به مو دے ته پستنه بوځی ، او بیا به مو دَ دے

اِخۡرَاجًا ﴿١٨﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَکُمُ الۡاَرۡضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ ۙ لِّتَسۡلُکُوۡا مِنۡهَا

په دوباره راویستو سره | او الله | جوړه کړله | تاسو دَ پاره | زمکه | یو فرش | چه تاسو روان یئ | دَ دے

نه بهر راوُباسی ۔ او الله تعالیٰ درله زمکه فرش کړے ده ۔ چه تاسو دَ هغے په ارتو لارو

سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾ قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا

په لارو کښے | چه کشاده دي | وو ئیل | نوح ؑ | اے زماربه! | بیشکه دوی | نافرماني وکړه زما | او پیروي وکړه دوی

کښے روان یئي ۔ حضرت نوح ؑ ووئیل چه اے زماربه! دوئ زما نافرماني وُکړه او دهغه چا په

مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُوا مَكْرًا

دهغه چا | چه نه ئې زیات کړه ده ته | مال دده | او اولاد دده | مګر | نقصان | او دوئ چال وُچلولو | چال

لاره روان شول چه مال او اولاد ورته تش تاوان ورکړے دے ۔ او دوئ غټ غټ

كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا

ډیر زبردست | او دوئ ووئیل | هیڅ کله پرې نه ږدئ | معبودان خپل | او هیڅ کله پرې نه ږدئ | ود | او نه | سواع

مکرونه وکړل او دوئ (یوبل ته) ووئیل چه خپل معبودان بالکل مه پرېږدئ او مه پرېږدئ وَد او سواع

وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ

او نه یغوث | او یعوق | او نسر | او بیشکه | دوئ بے لارے کړل | ډیر خلق | او ته مه ډیروه

او نه یغوث او یعوق او نسر ۔ او دوئ (خان سره) ډیر خلق ګمراه کړل او ته دَ دے

الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾ مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا

ظالمانو خلقو ته | مګر ګمراهي | په وجه دَ جرمونو خپلو | غرق کړے شول دوئ | بیا داخل کړے شول دوئ | په اور کښے

ظالمانو ګمراهي نوره هم سوا کړه ۔ نو دَ خپلو ګناهونو په سبب هغوئ ډوب کړے شول نو اور ته ورسیدل

فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ

پس دوئ بیا نه موندو | خان دَ پاره | سوا دَ الله نه | څوک مددګار | او ووئیل | نوح ؑ | اے زماربه!

نو دَ الله په مقابله کښے هیڅوک ئے مددګار ونه موندل ۔ او نوح ؑ داهم ووئیل چه اے زماربه!

لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ

مه پرېږده | په زمکه باندې | له کافرانو نه | څوک اوسیدونکے | بیشکه ته | که چرے پرېږدے دوئ

ته دَ زمکے په مخ دَ کافرانو یو استوګن هم باقي پرے نه ږدے ۔ که دوئ پرېږدے نو ګیا به

يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ

نو بے لارے به کړي | بندګان ستا | او و به نه زیږوي | مګر | بدکاره | کافران | اے زماربه!

وی ستا بندګان به ګمراه کوي او چه کوم زیږون کوي نو هغه به هم بد عمله کافر (اولاد) وي ۔ اے زماربه!

اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا

وُبخښه | ما | او پلار او مور زما | او هغه څوک | چه داخل شي | زما په کور کښے | مؤمن

ما وُبخښه او زما پلار او مور وُبخښه، او څوک چه زما کورته دَ مؤمن په حیث راننوتو

وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾

او مؤمنانو سړي | او مؤمنانو ښځو | او مه زیاتوه | ظالمانو دَ پاره | مګر | بربادي

او ټول مؤمنان او ټولے مؤمنانے وُبخښه! او دَ دے کافرانو خو تباهي نوره زیاته کړه ۔

سُوْرَةُ الْجِنِّ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورہ جن په مکه کښې نازل شوې ده په دې کښې ۲۸ آیتونه او ۲ رکوع دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) د الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکی دی

د الله تعالیٰ په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم خاوند دی

قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْٓا اِنَّا سَمِعْنَا

ووایه | وحی دا او لیږلی شوه | زما طرف ته | چه دا او رېدله | یوې ډلې | له پیریانو نه | پس دوی ووئیل | بیشکه موږ واورېدو

(اے رسوله) ووایه چه ماته وحی راغلې ده چه د پیریانو یو ټولی قرآن واورېدلو ، نو ووئې وئیل چه موږ عجیبه

قُرْاٰنًا عَجَبًا ۝١ يَّهْدِيْٓ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ۭ وَلَنْ نُّشْرِكَ

قرآن | عجیبه | چه هدایت کوي | سمې لارې طرف ته | پس ایمان راوړو موږ | په دې | او هیڅکله به موږ شریک نه کړو

قرآن واورېدو ، چه سمې لارې ته بلنه کوي ، نو ایمان مو پرې راوړو ، او موږ به خپل رب سره

بِرَبِّنَآ اَحَدًا ۝٢ وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً

د خپل رب سره | هیڅوک | او دا چه اوچت دے | شان | زموږ د رب | نه دے نیولې ده | ښځه

(اوس) هیڅوک نه شریکوو . او دا چه زموږ د رب شان ډېر اوچت دے ، هغه نه څوک ښځه کړې ده

وَّلَا وَلَدًا ۝٣ وَّاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ۝٤

او نه اولاد | او دا چه | وئیل به | له موږ نه بې وقوف | په الله باندې | دروغ

او نه (ئې) اولاد (شته) . او دا چه زموږ کم عقلو به د الله تعالیٰ په حقله د حق نه زیاتې خبرې کولې .

وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۝٥ وَّاَنَّهٗ

او موږ گمان کړے وو | چه هیڅ کله به نه وائي | انسانان | او پیریان | په الله باندې | دروغ | او دا چه

او زموږ خو دا خیال وو چه انسانان او پیریان به د الله تعالیٰ په حقله هیڅ دروغ نه جوړوي ،

كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ

وو څه خلق | له بنیادمو نه | چه پناه به ئې غوښتله | په سړو | د پیریانو | نو هغوئ زیاته کړې وه دوئ

او دا چه به بنیادمو کښې ځینې کسان داسې هم تېر شوي دي چه هغوئ به د ځینو سړو د پیریانو په ذریعه پناه غوښتله نو د هغو

رَهَقًا ۝٦ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ

سرکشي | او دا چه هغوئ هم | (داسې) خیال کولو | لکه چه | تاسو خیال کوئ | چه | هیڅ کله به دوباره نه راپاڅوي

غرور نور هم زیات کړو ، او د هغوئ هم دا گمان وو لکه چه تاسو گمان نه کوئ چه الله تعالیٰ به هیڅوک بیا نه راژوندي

اللّٰهُ اَحَدًا ۝٧ وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا

الله | هیڅوک | او دا چه موږ | لاس یوړو | آسمان ته | پس موږ بیا مونده لو دا | ډک شوے | په سختو څوکیدارانو

کوي . او دا چه موږ د آسمان تلاشي واخسته نو هغه موږ د پیړې څوکۍ او د شعلو نه ډک

وَّشُهُبًا ۝٨ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۭ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ

او شعلو سره | او دا چه موږ به | کښېناستلو | د دې | په ځایونو باندې | د پاره د آورېدلو | پس څوک چه | آوري

بیا موندلو . او دا چه موږ به د آسمان په ځینو ځایونو د خبرو د آورېدو د پاره کښېناستلو نو اوس چه څوک څه

الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿۹﴾ وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْٓ اَشَرٌّ اُرِيْدَ

اوس | نو بیا مومي خپل ځان د پاره | یو شعله | تیاره کړے شوے | او دا چه | مونږ نه پوهیږو | آیا د شر بدي | اراده شوې ده

آوریدل غواړي نو یوه شعله تیاره بیا مومي. او مونږ په دے نه پوهیږو چه د دے نه د زمکه استوګنو ته

بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿۱۰﴾ وَّاَنَّا مِنَّا

د هغو چا سره | چه په زمکه کښے دي | یا اراده کړے ده | دوي سره | د دوي رب | د هدایت | او دا چه له مونږ نه

ضرر رسول مراد دي که نه خپل رب ورته هدایت کول غواړي. او دا چه په مونږ کښے

الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ۭ كُنَّا طَرَاۗىِٕقَ قِدَدًا ﴿۱۱﴾ وَّاَنَّا

(ځنې) نیک خلق دي | او له مونږ نه | (ځنې) د دے نه علاوه دي | وو مونږ | په مختلفو طریقو باندې | او دا چه مونږ

نیکان هم تیرشوي دي او بل قسم خلق هم. (غرض دا چه) مونږ په مختلفو لارو چارو روان وو او مونږ په دے

ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿۱۲﴾

ګمان کړے دے | چه مونږ به هیڅ کله عاجزه نه کړو | الله | په زمکه کښے | او مونږ به هیڅ کله عاجزه نه کړو دے | په تیښته

پوهه شوي یو چه مونږ د زمکے په مخ (هیڅ ځائے کښے) الله عاجزه کولے نه شو او نه تریے نه په تیښته خلاصیدے شو

وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى اٰمَنَّا بِهٖ ۭ فَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِرَبِّهٖ

او بیشکه | هر کله چه | مونږ واوریدو | هدایت | نو مونږ ایمان راوړو | په هغے | پس څوک چه | ایمان راوړي | په رب خپل

او دا چه مونږ د هدایت خبره واوریده نو ایمان پرے راوړو. نو څوک چه په خپل رب ایمان راوړي

فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿۱۳﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا

نو ده به نه ویریږي | له نقصان نه | او نه له ظلم نه | او بیشکه ځنے له مونږ نه | فرمانبردار دي | او ځنے له مونږ نه

نو هغه سره نه خو د نقصان ویره وي او نه د زیاتي. او په مونږ کښے ځنے مسلمانان دي او ځنے

الْقٰسِطُوْنَ ۭ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰۗىِٕكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿۱۴﴾ وَاَمَّا

ظالمان دي | نو څوک چه | فرمانبردار شول | نو دا ے خلقو | بیا موندله | نیغه لاره | او هغه چه

بے لارے دي، نو چا چه اسلام قبول کړو نو هغوي د نیکۍ سمه لار راوویسته. او څوک چه (د اسلام نه)

الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿۱۵﴾ وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ

ظالمان دي | پس وي به دوي | د پاره د دوزخ | خشاک | او دا چه | که چرے | دوي قائم وسیږي | په نیغه لاره

بے لارے شو نو هغوي د دوزخ خشاک شو، او که دا خلق په سمه لاره ولاړ پاتے وے

لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّاۗءً غَدَقًا ﴿۱۶﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ۭ وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ

نو خامخا به څښو و مونږ په دوي | اوبه ډیرے | چه مونږ دوي وازمایو | په دے کښے | او څوک چه مخ واړوي | له ذکر نه

نو مونږ به په پریمانه اوبو خړوب کړي وو چه د دوي آزمینت پرے وکړو او څوک چه د خپل رب د ذکر نه مخ

رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿۱۷﴾ وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا

د رب خپل | هغه به دے داخل کړي | په عذاب | سخت کښے | او دا چه | جماتونه | الله د پاره دي | نو تاسو مه بلئ

واړوي نو الله به ئے سخت عذاب ته ورننباسي او دا چه جماتونه خو هم د الله (د عبادت) د پاره دي نو الله سره د

مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿۱۸﴾ وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا

دَ الله سره | بل څوک | او دا چه | هر کله | ودریدو | بنده دَ الله | چه دے راوبلی | نو نزدے وه

بل هیڅوا بلنه مهٔ کوئ ۔ او دا چه دَ الله تعالیٰ (خاص) بنده دَ هغهٔ عبادت له ودریږی ، نو دا

يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿۱۹﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖۤ

ع ۱ / ۱۹ / ۱۱

چه دا (پیریان) شی | په ده باندے | راچپیر | وو وایه | بیشکه | زهٔ رابلم | رب خپل | او نهٔ شریکئ مقررم دَ ده سره

(پیریان) پرے راچپیر شی ۔ ته ووایه چه زهٔ خو بس دَ خپل رب عبادت کوم او هغهٔ سره زهٔ هیڅوک نهٔ

اَحَدًا ﴿۲۰﴾ قُلْ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿۲۱﴾

هیڅوک | وو وایه | بیشکه زهٔ | اختیار نهٔ لرم | تاسو د پاره | دَ څهٔ نقصان | او نهٔ | دَ څهٔ بنیګړے ۔

شریکوم ۔ ته ووایه چه زهٔ ستاسو په حقله نهٔ دَ ضرر اختیار لرم او نه دَ هدایت ۔

قُلْ اِنِّيْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ ۙ وَّلَنْ اَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ

ووایه | بیشکه ما به | هیڅ کله بچ نه کړے شی | دَ الله نه | هیڅوک | او هیڅ کله به زهٔ بیا نهٔ موم | بے له ده نه

ته ووایه چه ما له دَ الله تعالیٰ نه هیڅوک پناه راکولے نهٔ شی او نهٔ دَ هغهٔ نه سوا بل څوک

مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾ اِلَّا بَلٰغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهٖ ؕ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ

څهٔ دَ پناه ځائے | سوا دَ رسولو (دَ حکم) | له طرفه دَ الله نه | او دَ ده دَ پیغامونو | او څوک چه | نافرمانی وکړی | دَ الله

پښت پناه موندلے شم ۔ البته زما کار دَ الله حکمونه او دَ ده پیغامونه رسول دی او څوک چه دَ الله او دَ ده دَ رسول

وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ﴿۲۳﴾ حَتّٰٓى

او دَ ده دَ رسول | نو بیشکه ده د پاره | اور دے | دَ دوزخ | همیشه به وی | په هغے کښے | تل تر تله | تر دے چه

نافرمانه شی ، نو هغهٔ له دَ دوزخ اور مقرر دے چه تل تر تله به پکښے اوسیږی ۔ تر دے چه

اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ

هر کله | هغه ووینی | هغه څهٔ | چه دَ دوی سره ئے وعده کولے شی | نو دوی به ډیر زر پوهه شی | چه دَ چا | کمزوری دی

هر کله هغوئ هغه (عذاب) ووینی دَ کوم چه ورسره وعده ده نو هغه وخت به هغوئ پوهه شی چه دَ چا مددګاران

نَاصِرًا وَّاَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲۴﴾ قُلْ اِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ

مددګاران | او کم دی | په شمیر کښے ؟ | ووایه | زهٔ نهٔ پوهیږم | چه آیا نزدے دے | هغه څیز | چه تاسو سره ئے وعده کولے شی

کمزوری دی او دَ چا شمیره کمه ده ؟ ته ووایه چه ماته معلومه نهٔ ده چه تاسو سره دَ کوم څیز نو ظ کیږی

اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ رَبِّيْٓ اَمَدًا ﴿۲۵﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ

یا | مقرر به کړی | دَ ده د پاره | زما رب | یوه زمانه لرے | هغه پوهه دے | په غیبو | پس هغه نهٔ خبروی

هغه نزدے راغلے دے یا زما رب هغے له اوږد میعاد ایښے دے ، هغه په غیبو خبر دے پس هغه په غیبو

عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ

په غیبو باندے | هیڅوک | مګر | هغه څوک | چه غوره ئے کړی (الله) | له رسولانو نه | نو بیشکه هغه | روانوی

هیڅوک نهٔ خبروی ۔ هو ! چه یو غوره پیغمبر ته (دَ غیبو خبرو کول غواړی) نو دَ هغهٔ وړاندے

مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿۲۷﴾ لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ

وړاندې له هغهٔ نه | او وروستو له هغهٔ نه | محافظ (فرښتې) | چه دے معلوم کړي | چه دوئ رسولي دي | پيغامونه

وروستو محافظان راولیږي ، چه هغهٔ ته ښکاره شي چه هغوئ دَ خپل رب پيغامونه

رَبِّهِمْ وَاَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿۲۸﴾ ع ۲ ۱۲

دَ رب خپل | او دهٔ احاطه کړے ده | دَ هغوئ | چه دوئ سره دي | او دهٔ شمیرلے دے | هر څیز | په شمیر

اُورسول او الله تعالیٰ دَ هغوئ دَ ټولو معاملو په علم سره احاطه کړے ده او هغهٔ هر څیز شمیرلے دے .

سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | عِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورۂ مزمل په مکه کښې نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښې ۲۰ آیتونه او ۲ رکوع دي

دَ الله په نامه شروع چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

يٰۤاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿۱﴾ قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲﴾ نِّصْفَهٗۤ اَوِ انْقُصْ مِنْهُ

اے په جامو کښې ځان رانغښتونکیه! | قیام کوه | دَ شپے | مګر | لږ | دَ دے نیمه | یا کمه کړه | له دے نه

اے چه ځان دِ په جامو کښې نغښتے دے ، دَ شپے (په مانځونو کښې) ودریږه سوا دَ لږے شپے نه . یعنی نیمه شپه یا دَ دے نه (هم) څهٔ کمه

قَلِيْلًا ﴿۳﴾ اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴿۴﴾ اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ

لږه (حصه) | یا زیات کړه | په دے باندې | او لوله | قرآن | ښهٔ صفا صفا | بیشکه مونږ به دَرا اچوو | په تا باندې

(ودریږه) یا څهٔ لږ پرې سوا کړه ، او قرآن ښهٔ صفا صفا لوله ، مونږ په تا باندې یو دروند کلام

قَوْلًا ثَقِيْلًا ﴿۵﴾ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّاَقْوَمُ

کلام | ډیر دروند | بیشکه | راولیښیدل | دَ شپے | دا | ډیر زیات | پامال کوونکے دَ (نفس) | او زیات درست دي

را اچوو . بیشکه دَ شپے راپاڅیدل (نفس) په سختۍ سره پامال کوي او کومه خبره چه دَ خُلے نه وتي

قِيْلًا ﴿۶﴾ اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا ﴿۷﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ

(په دے کښې) خبره | بیشکه | ستاخو | په ورځ کښې | مشغولتیا ده | ډیره | او یاده کړه | نامه | دَ خپل رب

دُرسته وي ، بیشکه چه ستا خو دَ ورځے هم ډیره مشغولتیا ده . او ته دَ خپل رب دَ نامے ذکر کوه .

وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ﴿۸﴾ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَاۤ اِلٰهَ

او راجُدا شه | دَ دهٔ طرف ته | په راجُدا کیدلو سره | دے رب دے | دَ مشرق | او دَ مغرب | بل معبود نشته

او ټول پریږده (ټولو نه جدا شه) هم دهٔ ته توجه وکړه . دے دَ مشرق او دَ مغرب رب دے ، بے له دهٔ بل معبود

اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا ﴿۹﴾ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا

مګر هم دے دے | پس وُنیسه دے | کارساز | او صبر کوه | په هغهٔ | چه دوی ئے وائي | او پریږده دوئ | په پریښودو

نشته نو هم دے خپل کارساز کړه . او دَ دوئ په وینا ګانو صبر کوه او په ښکلے (مناسبه) طریقه ترے

جَمِيْلًا ﴿۱۰﴾ وَذَرْنِيْ وَالْمُكَذِّبِيْنَ اُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا ﴿۱۱﴾ اِنَّ

ښو سره | او پریږده ما | او دروغ ګڼړونکي | خاوندان دَ نعمت | او مهلت ورکړه دوئ ته | لږ | بیشکه

نه جُدا شه ، او ما پریږده او دا دروغ ګڼړونکي دَ نعمتونو خاوندان پریږده او دوئ ته لږ مهلت ورکړه . بیشکه

إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴿١٢﴾ وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣﴾

موږ سره دي | بېړۍ | او بلېدونکې اور | او طعام | په مرۍ کې بندېدونکی | او عذاب | دردناک

موږ سره خو بس زولنې او دوزخ دے . او په مرۍ کې بندېدونکې خوراک دے او دردناک عذاب دے .

يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾

په هغه ورځ | چه وُجرقېږي | زمکه | او غرونه | او شي | غرونه | ډېرۍ د رېګ | روان

دا په هغه ورځ چه زمکه او غرونه به وُجرقېږي او غرونه به د رېګ په شان الوزي .

إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ

بېشکه موږ رالېږلے دے | ستاسو طرف ته | یو رسول | ګواهي ورکوونکے | په تاسو باندې | لکه چه | موږ لېږلے وو

موږ تاسو ته یو رسول راولېږلو ، په تاسو موګواه کړو ، لکه چه فرعون ته موږ یو

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا

د فرعون طرف ته | یو رسول | پس نافرماني وکړه | فرعون | د هغه پېغمبر | نو موږ ونیولو دے | په نیولو

رسول لېږلے وو ، نو فرعون د هغه رسول نافرماني وکړه ، نو موږ ډېر کلک

وَبِيلًا ﴿١٦﴾ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ

سختو سره | پس څنګه به | تاسو بچ کېږئ | که چرے | تاسو هم انکار وکړو | د هغې ورځ نه | چه کړي به | هلکان

راونیولو ، نو تاسو به د هغې ورځې (د مصیبت) نه څنګه ځان بچ کوئ چه بچي به (د وېرې نه) بوډا کانړ

شِيبًا ﴿١٧﴾ السَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ كَانَ وَعْدُهُۥ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ

زاړه | آسمان به | وُچوی په هغې سره | ده | وعده د ده | پوره کېدونکې | بېشکه | دا

کړي . او آسمان به پرے راوُشلېږي ، د الله وعده به ضرور پوره کېږي ، دا (قرآن) یو

تَذْكِرَةٌ فَمَن شَآءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿١٩﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ

نصیحت دے | پس څوک چه | غواړي | جوړه دې کړي | خپل رب طرف ته | لاره | بېشکه ستا رب | پوهېږي

نصیحت دے . نو چه د چا زړه غواړي د خپل رب لاره دې اختیار کړي ، ستا رب ته ښه معلومه

أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ

په دے چه ته پاڅې | نزدے | دوو ته د دریو حصو | د شپې | او نیمه شپه | او دریمه حصه | او یوه ډله

ده چه ته او ستا ملګري د شپې په دریو کښې تر دوو برخو او کله تر نیمې شپې او کله تر

مِّنَ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَن

له هغو کسانو نه | چه تا سره دي | او الله | اندازه کوي | د شپې | او د ورځې | پوهېږي الله چه

دریمې برخې ولاړ یئ . او د شپې ورځې سمه اندازه یوازے الله کوي ، هغه ته معلومه ده چه

لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْءَانِ عَلِمَ

هرګز د انکار تاسو سره کولے نه شئ | نو ده رحم وکړو | په تاسو | پس ولولئ | هغه څه | چه آسان وي | له قرآن نه | پوهه دے

تاسو د انکار تر سره کولے نه شئ نو توجه ئې در ته وکړه نو څومره قرآن په آسانه لوستے شئ هومره لولئ ، هغه ته دا م

ع ۱۲

أَنْ سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ۙ وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ

په دے چه وی به | ځنې له تاسو نه | بیماران | او ځنې نور خلق هم | چه سفر به کوی | په زمکه کښې

معلوم دے چه ځوک به در کښې ناجوړه وی او ځوک به په زمکه کښې په سفر وتلی وی چه د الله تعالیٰ

يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ ۙ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ

لټوی به | فضل | د الله | او ځنې نور خلق | چه جنګ به کوی | په لاره کښې

فضل (روزی) به لټوی ـ او ځنې خلق به د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد

اللَّهِ ۖ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۚ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ

د الله | پس لولئ | هغه څه | چه آسان وی | له دے نه | او قائم لرئ | مونځ | او ادا کوئ | زکوٰة

کوی نو تاسو چه څومره قرآن په آسانئ لوستے شئ هومره لولئ او د مونځ پابندی کوئ ۰ او زکوٰة ورکوئ

وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ

او قرض ورکوئ | الله ته | قرض | ښه | او څه چه | تاسو وړاندې لیږئ | د خپلو ځانونو د پاره | له نیکئ نه

او د الله تعالیٰ په لاره کښې په خوشحالئ خرڅ کوئ او هر څه نیکی چه مو د ځان نه وړاندې ولیږله

تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ۚ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ ۖ

نو بیا به مومئ هغه | د الله سره | هم هغه | غوره | او ډیر لوئے دے | په اجر کښې | او بخښنه غواړئ | د الله نه

نو الله تعالیٰ ته د رسیدو سره به ئے د هغے نه ښه او په اجر کښې زیات به یا مومئ او د الله تعالیٰ نه بخښنه غواړئ

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٠﴾ ع

بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے

یقیناً الله تعالیٰ ډیر بخښونکے رحم کونکے دے

ع ٢ / ١٢

سُورَةُ الْمُدَّثِّرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتٌّ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ | وَخَمْسُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورة مدثر په مکه کښې نازل شوی او | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کونکے دے | په دے کښې ٥٦ آیتونه او دوه رکوعګانې

د الله په نامه شروع چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمْ فَأَنذِرْ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿٣﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾

اے په جامه کښې ځان نغښتونکیه! | پاڅه | پس او ویروه | او د رب خپل | لوئی بیان کړه | او جامے خپلے | پاکے کړه ـ

اے چه ځان دے په جامه کښې رانغښتے دے پاڅه او خلق او ویروه او د خپل رب لوئی بیان کړه او خپلے جامے پاکے ساته ـ

وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾

او پلیتئ نه | جدا وسیږه | او احسان مه کوه | چه زیات پرے غواړے | او د خپل رب د پاره | صبر کوه ـ

او د ګندګئ نه لرے وسیږه او دا سے احسان مه کوه چه زیات عوض پرے غواړے او د خپل رب (په رضا) صابره وسیږه

فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴿٨﴾ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾ عَلَى الْكَافِرِينَ

بیا هرکله چه | پوک کړے شی | په شپیلئ کښې | نو هغه به | په دغه ورځ | ورځ وی | ډیره سخته | په کافرانو باندې

نو څه وخت چه شپیلئ پوک کړے شی ، نو دغه ورځ به په کافرانو باندې سخته ورځ وی ـ

غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿١٠﴾ ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾ وَّجَعَلْتُ لَهٗ مَالًا

په هغه آسانه نه وي | ما پريږده | او هغه څوک چې پيدا کړو ما | يوازې | او جوړ کړو ما | هغهٔ د پاره | مال

آسانه به نه وي . ما پريږده او هغه څوک چې يوازې مې پيدا کړو . او هغهٔ له مې ډير مال

مَّمْدُودًا ﴿١٢﴾ وَّبَنِينَ شُهُودًا ﴿١٣﴾ وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيدًا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ

ډير | او ځامن | حاضر | او تيار کړو ما | هغهٔ د پاره | هر رنګه سامان | بيا هغه طمع کوي

ورکړو او ورسره په خوا کښې ناست ځامن مې ورکړل او د دنيا ټول سامان نو ته مې ورته ورکول . بيا هغه طمع کوي

اَنْ اَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّا ۚ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾ سَاُرْهِقُهٗ

چې زيات ورکړم | هرګز نه | بيشکه هغه دے | زمونږ د آيتونو | سخت مخالف | ډير زر به زهٔ وخيژوم دے

چې ده ته نور زيات ورکړم . هيڅکله نه ، دے خو زمونږ د آيتونو مخالف دے ، اوس به زهٔ د دوزخ (د اور) غرته

صَعُودًا ﴿١٧﴾ اِنَّهٗ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ

د دوزخ په غرهٔ باندې | بيشکه ده فکر وکړو | او اندازه ئې ولګوله | نو برباد دې شي | چې څنګه اندازه ئې ولګوله | بيا دې تباه شي

په زور وخيژوم . هغهٔ فکر وکړو او بيا ئې تجويز وکړو ، نو برباد دې شي چې څنګه (خراب) تجويز ئې وکړو . بيا دې تباه شي

كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾

چې څنګه اندازه ئې ولګوله | بيا ئې وکتل | بيا ئې تندی تريو کړو | او خُله ئې ورانه کړه | بيا ده شا کړه | او لوئي ئې وکړه

چې څنګه (ناکاره) تجويز ئې وکړو ، بيا ئې غور وکړو ، بيا ئې تندی تريو کړو او خُله ئې ورانه کړه . بيا ئې مخ واړولو او ځان ئې غټ وګڼلو

فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

بيا ده ووئيل | نه دے دا (قرآن) | مګر جادو | چې روايت کړے شوے | نه دے دا (قرآن) | مګر کلام د | د انسان

نو دا ئې ووئيل چې دا (قرآن) خو د پخوانو (نقل شوی) جادو دے . دا خو تش د بنيادم کلام دے .

سَاُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾

ډير زر به زهٔ داخل کړم دے | دوزخ ته | او ته څهٔ خبر يې | چې دوزخ څهٔ دے ؟ | باقي به نه پريږدي | او نه به ئې پريږدي

زهٔ به ئې زر دوزخ ته ورننباسم او ته څهٔ خبر يې چې دوزخ څهٔ څيز دے ؟ نه به ئې روغ پريږدي او نه به ئې خلاصوي

لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ النَّارِ

سوزونکې دے | د انسان | په دے (دوزخ مقرر دي) | نولس (فرښتې) | او نه دي جوړ کړي مونږ | د دوزخ محافظان

بشره به (ورل) وراڼه کړي په هغې به نولس فرښتې مقررې وي او مونږ خو بل څوک نه ، بلکه فرښتې په

اِلَّا مَلٰٓئِكَةً ۙ وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ

مګر | فرښتې | او نه دے ګرځولے مونږ | شمير د دوئ | مګر ازميښت | هغه کسانو د پاره | چې کافر دي | چې يقين وکړي

دوزخ وُدرولے دي ، او د هغوئ دا شميره مو د کافرانو په حقله تش د ازميښت په غرض ايښے ده چې نتيجه به ئې دا

الَّذِينَ اُوتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِينَ اٰمَنُوٓا اِيمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ

هغه کسان | چې ورکړے شوے | کتاب | او چې زيات شي | مؤمنان | په ايمان کښې | او چې شک ونه کړي

شي چې کتابيان خو به پورے يقين وکړي ، او د ايماندارو به پورے ايمان زيات شي او کتابيان او

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

هغه خلق چه | ورکړے شو | کتاب | او مؤمنان | او چه ووائی | هغه خلق چه | په زړونو د دوئ کښے

مؤمنان به پکښے (هیڅ) شک شبهه نهٔ کوی او نتیجه به ئے دا شی چه د چا په زړونو کښے چه مرض پروت

مَّرَضٌ وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ

مرض دے | او کافران | چه څهٔ څیز | اراده کړے ده الله | په دے | مثال سره | دغه شان | ګمراه کوی الله

دے هغه کسان او کافران به دا وائی چه اخر د دے بیان نه د الله غرض څهٔ کیدے شی ـ دغسے الله چه د چا په حقله

مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ؕ

هغه څوک چه غواړی | او لاره ښائی | هغه چاته چه غواړی | او هیڅوک نهٔ پیژنی | لښکرے | ستا د رب | سوا له ده نه

وغواړی نو هغه ګمراه کړی او د چا په حقله چه وغواړی نو هدایت ورکړی او ستا د رب لښکرے خو بس یواځے هغهٔ ته معلومے دی

وَمَا هِيَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾ كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ﴿٣٣﴾

او نهٔ دی دا (خبره) | مګر | نصیحت | د انسان د پاره | هرګز نه | قسم دے په سپوږمئ | او په شپه | هرکله چه | واپس راوګرځی

او دا (د دوزخ) بیان خو د خلقو د پاره یو نصیحت قدرله دے ، هو ! قسم دے په سپوږمئ او په شپه چه په تیریدو شی ـ

وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ اِنَّهَا لَاِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾

او په صبا | هرکله چه | روښانه شی | بیشکه دا (دوزخ) | په لویو مصیبتونو کښے یو دے | ویروونکے دے | د انسان

او په صبا چه روښانه شی ، چه دغه (دوزخ) یو ډیر لوئے مصیبت دے د خلقو د پاره ویروونکے دے ـ

لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ ﴿٣٧﴾ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ

د پاره د هغه چا چه غواړی | له تاسو نه | چه هغه راوړاندے شی | یا وروستو پاتے شی | هر یو کس | په بدل د خپلو عملونو کښے

یعنی په تاسو کښے هغه چاله چه (په نیکئ کښے) وړاندے کیدل او وروستو پاتے کیدل غواړی ، هر بنده به په خپل عمل کښے ګانړه

رَهِيْنَةٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّآ اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ﴿٣٩﴾ فِيْ جَنّٰتٍ ۛ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٤٠﴾

ګانړه دے | مګر | د ښی طرف والا (نیکان خلق) | په باغونو کښے (به وی) | دوئ به تپوس کوی

پروت وی خو د ښی اړخ خاوندان نهٔ هغوئ به په باغونو کښے وی تپوس به کوی

عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوْا لَمْ نَكُ

له ګناهګارانو نه | چه څهٔ څیز راننویستلی یئ تاسو | په دوزخ کښے | دوئ به وائی | چه مونږ نهٔ وو

له مجرمانو نه چه تاسو کومے خبرے دوزخ ته راورسولئ هغوئ به وائی چه مونږ مونځ ګزار

مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوْضُ

له مونځ ګزارو نه | او نهٔ وو مونږ | چه طعام مو ورکولے | مسکینانو ته | او مونږ په فضول کارونو کښے مشغول وو

نهٔ وو ، او مسکینانو له به مونږ خوراک نهٔ ورکولو او د شغل خاوندانو سره به مونږ

مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٤٦﴾ حَتّٰىٓ اَتٰىنَا

مشغولو کسانو سره | او مونږ به دروغ ګڼړله | ورځ | د جزا | ترڅو چه | راغے مونږ ته

هم په (قسم قسم) شغلونو کښے پراته وو ـ او د قیامت ورځ مو دروغ ګڼړله ـ تر دے چه مرګ

الْيَقِينُ ﴿٤٧﴾ فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ

یقین | پس فائده به ورنه کړي دوئ ته | د سفارش کوونکو | پس په دوئ څه شوي دي چه | له نصیحت نه

رابانې راغے. نو دا سے خلقوته به د سفارشیانو سفارش هیڅ فائده ورنه کړي، نو په دوئ څه شوي دي چه له نصیحت

مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيدُ

دوئ مخ اړوي | لکه چه دوئ | خرۀ دي | تښتېدونکي | چه تښتېدلي وي | له زمري نه | بلکه غواړي

نه مخ اړوي؟ لکه چه دوئ (وحشي) خرۀ دي چه د زمري نه تښتي. خبره دا ده چه په دوئ

كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا ۖ بَلْ لَّا يَخَافُونَ

هر یو کس | له دوئ نه | چه ورکړے شي دۀ ته | صحیفے | پرانستلے شوے | هرګز نه! بلکه | دوئ نۀ ویرېږي

کښے هر کس دا غواړي چه هغۀ له د پرانستلے صحیفے ورکړے شي، داسے به نۀ شي کیګي حقیقت دا دے چه دوئ

الْآخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّا إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذْكُرُونَ

له آخرت نه | هرګز نه | بیشکه دا | یو نصیحت دے | پس څوک چه | غواړي | نو یاد دې کړي دا | او دوئ نه یادوي (قرآن)

د آخرت نه نۀ ویرېږي. البته دا (قرآن) خو یو نصیحت دے بیا څوک چه غواړي له دے (کتاب) نه نصیحت واخلي او نصیحت خو به

إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

مګر | دا چه | و غواړي | الله | هم دے | لائق دے (د دے) | چه له دۀ نه (خلق) اوویرېږي | او (د دے) لائق دے چه له دۀ نه معافي وغوښتي

دوئ په هغه حال کښے حاصلوي چه الله غواړي، هم هغه دے چه ترے نه ویره پکار ده او هم هغه د بخښنے خاوند دے.

سُورَةُ الْقِيَامَةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ٧٥ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ | أَرْبَعُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورۀ قیامت په مکه کښے نازل شوه او | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښے ٤٠ آیتونه دي او ٢ رکوع دي

د الله په نامه شروع چه ډیر مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴿١﴾ وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ أَيَحْسَبُ

زۀ قسم خورم | په ورځ | د قیامت | او زۀ قسم خورم | په نفس | ملامت کوونکي | آیا ګمان کوي

زۀ د قیامت په ورځ قسم خورم، او زۀ قسم خورم په هغه نفس چه په بدۍ ملامته کوي، آیا انسان دا خیال کوي

الْإِنسَانُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَادِرِينَ عَلَىٰ أَن نُّسَوِّيَ

انسان | چه موږ به هیڅ کله نه جمع کوو | هډوکي د دۀ | ولے نه | موږ (خو) قادر یو | په دے چه | برابر به کړو موږ

چه موږ به د هغۀ هډوکي نۀ را جمع کوو، ضرور به ئے راغونډ وو موږ خو په دے قادر یو چه د هغۀ د ګوتو سرونه

بَنَانَهُ ﴿٤﴾ بَلْ يُرِيدُ الْإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ ﴿٥﴾ يَسْأَلُ أَيَّانَ يَوْمُ

د ګوتو سرونه د دۀ | بلکه | غواړي | انسان | چه بد عملي وکړي | آینده هم | دے پوښتنه کوي | چه کله به وي | ورځ

هم برابر کړو خبره دا ده چه انسان خو دا غواړي چه آینده هم بد عملي کوي، دے دا پوښتنه کوي چه د قیامت ورځ

الْقِيَامَةِ ﴿٦﴾ فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ

د قیامت | پس هر کله چه | و بریښي | سترګے | او تندر و نیسي | سپوږمۍ لره | او یو ځائے کړے شي

به کله راځي؟ نو په کومه ورځ چه سترګے سپینے و تښتي او سپوږمۍ بے نوره شي، او نور او سپوږمۍ

الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُوْلُ الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ اَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا

هرگزنه | دَ تېښتې ځائے؟ | چرته دے | په دغه ورځ | وبه وائي | انسان | او سپوږمئ | نور

بهٔ په يو حال کړے شي ، نو انسان به په دغه ورځ وائي چه (اوس) کوم خوا وتښتم؟ نه. اوس هيڅ

لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ ۨالْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ

نشته هيڅ پناه | ستا دَ رب طرف ته دے | نن ورځ | ځائے دَ قرارئ | وبه ښودلے شي | انسان ته | په دغه ورځ

ځائے کښې پناه نشته ، په دغه ورځ دَ خلقو ټيکاؤ هم يواځې ستا دَ رب اړخ ته دے . په دغه ورځ به بنديانو ته خپل وړاندې وروستو

بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ الْاِنْسَانُ عَلٰى نَفْسِهٖ بَصِيْرَةٌ ﴿١٤﴾ وَّلَوْ

هغه څه چه دهٔ وړاندې ليږلي دي | او وروستو پريښي دي | بلکه انسان | په خپل ځان باندې | پخپله گواه دے | اگر چه

عملونه وروړاندې کړے شي ، بلکه انسان به پخپله هم په خپل حالت باندې گواه وي . اگر که

اَلْقٰى مَعَاذِيْرَهٗ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿١٦﴾

دا | پيش کړي | بهانې خپلې | ته حرکت مه ورکوه | په دَ قرآن سره | خپلې ژبې له | چه ته زر وا خلې

بهانې لټوي . (اے رسول!) ته قرآن ډير زر ياد ولو دَ پاره خپلې ژبې له حرکت مه ورکوه .

اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ﴿١٧﴾ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿١٨﴾

بيشکه زمونږ په ذمه دي | جمع کول دَ دے | او لوستل دَ دے | بيا هرکله چه مونږ ولولو دا | نو ته پيروي وکړه | دَ دے لوستلو

دَ دے را يو ځائے کول او تا ته لوستل زمونږ کار دے نو چه مونږ يے (تا ته) ولولو نو ته دَ هغے پيروي کوه .

ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ ﴿١٩﴾ كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُوْنَ

بيا | بيشکه زمونږ په ذمه دي | دَ دے بيانول | هرگزنه | بلکه | تاسو خوښوئ | دُنيا | او پريږدئ

بيا دَ هغے بيانول هم زمونږ په ذمه دي . مگر تاسو خلق دنيا سره محبت ساتئ ، او اخرت مو پريښے

الْاٰخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوْهٌ

اخرت | څه مخونه به | په دغه ورځ | تازه وي | دَ خپل رب طرف ته | به گوري | او څه مخونه به

دے . ډير مخونه به په دغه ورځ تازه وي ، خپل رب ته به گوري او ډير مخونه به

يَّوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾

په دغه ورځ | خړ پړ وي | خيال به کوي | چه دوئ سره به (سختي) کولے شي | دَ ملا دَ ماتولو

په دغه ورځ بے رونقه وي ، دوئ به خيال کوي چه په دوئ به داسے سختي کيږي چه دَ دوئ ملا به ماته کړي

كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيْلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَّظَنَّ

هرگزنه | هرکله چه (روح) | ورسيږي | گريوان ته | او وبه ويلے شي | څوک دے | دم اچوونکے | او دوئ به خيال کوي

البته څهٔ وخت چه روح گريوان ته ورسيږي او دا وويلے شي چه څوک دم اچوونکے شته ؟ او (مړکيدونکي ته)

اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ اِلٰى رَبِّكَ

چه دا (وخت) دَ (دے) جدائي | او را تاؤ به شي | يوه پنډئ | دَ بلے پنډئ نه | ستا دَ رب طرف ته (به وي)

يقين راشي چه دَ جدائي وخت راسيدلے دے او يوه پنډئ دَ بلے پنډئ نه را تاؤ شي ، په دغه ورځ ستا

يَوْمَئِذِنِ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ كَذَّبَ

په دغه ورځ | روانیدل | پس نه ده تصدیق وکړو | او نه ئې مونځ وکړو | او لیکن | ده دروغ وګڼل

د رب طرف ته روانیدل دی ، بیا نه خو دغه (کافر) تصدیق وکړو او نه ئې مونځ وکړو ، بلکه (ده د الله حکمونه) دروغ وګڼل

وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٤﴾

او مخ ئې واړولو | بیا | لاړو | د خپل کورو الو طرف ته | په فخر سره | پس افسوس دې په تا | پس افسوس

او (له دینه ئې) مخ واړولو او بیا خپل کورته په فخر سره پسته نه روان شو ، ستا تباهي په تباهي ده ـــــ ده .

ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٥﴾ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾

بیا | افسوس دے | په تا | بیا افسوس | آیا خیال کوی | انسان | چه | پریښودے شی | بے کاره

بیا ستا تباهي په تباهي ده . آیا انسان په دے خیال کښے پروت دے چه هسے بے کاره به پریښودے شی؟

اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ

آیا نه وو دے | یو څاڅکے | د منی | چه توئولے شی (په رحم کښے) | بیا | دے شو | لوټه د وینے | بیا ده پیدا کړو

آیا دے د منی یو څاڅکے نه وو چه (په رحم کښے) توئے کړے شوے وو ؟ بیا د وینے یوه لوټه شوه نو الله ترے انسان جوړ کړو

فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٣٩﴾ اَلَيْسَ ذٰلِكَ

بیا ئے درست کړو | بیا ئے جوړے کړے | له دینه | دوه جوړے (قسمونه) | سړے | او ښځه | آیا نه دے هغه (ذات)

او سم برابر ئے کړو ، بیا ئے له دے نه دوه قسمه سړے او ښځه جوړ کړل . آیا هغه (الله) په دے

بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ﴿٤٠﴾

قادر | په دے چه | ژوندی کړی | مړی

خبره قدرت نه لری چه مړی بیا راژوندی کړی .

۲ ع ۱۰ ۱۸

سُوْرَةُ الدَّهْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة دهر په مدینه کښے نازل شوا و | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے . | په دے کښے ۳۱ آیتونه او ۲ رکوع دی

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُوْرًا ﴿١﴾

بیشکه راغلے ده | په انسان | یوه موده | له زمانے نه | چه نه وو دے | هیڅ څیز | د ذکر قابل

بیشکه په انسان باندې په زمانه کښے داسے وخت هم تیر شوے دے چه هغه هیڅ د ذکر قابل څیز نه وو .

اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ ۖ نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ

بیشکه مونږ پیدا کړو | انسان | له یوے نطفے نه | چه مخلوطه وه | چه مونږ ئے آزمایو ئے | نو کړو مونږ دے

بیشکه چه مونږ انسان د مخلوطے نطفے نه را پیدا کړو چه آزمیښت پرے وکړو نو هغه مو آوریدونکے

سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿٢﴾ اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوْرًا ﴿٣﴾

آوریدونکے | لیدونکے | بیشکه | مونږ وښودله ده ته | لاره | نو یا شکر ګزاره دے | او یا ناشکره دے

(او) لیدونکے انسان جوړ کړو . بیشکه مونږ ورته نیغه لاره وښودله نو هغه یا شکرګزار شو او یا کافر شو .

إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَلٰسِلَاْ وَأَغْلٰلًا وَّسَعِيْرًا ﴿٤﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ

بیشکه | موږ تیار کړی دی | کافرانو دپاره | زنځیرونه | او تیز ندئ | او سور اور | بیشکه نیکان خلق به

موږ کافرانو دپاره زنځیرونه ، تیز ندئ او سور اور تیار ساتلے دے . بیشکه نیکان خلق به دَ

يَشْرَبُوْنَ مِنْ كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ﴿٥﴾ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا عِبَادُ

څښی | له پیالئ نه (هغه شراب) | چه پکښے به ګډ وی | کافور | یوه چینه | چه څښی به | له هغے نه | بندګان

داسے شرابو جامونه څښی چه په هغے کښے به دَ کافورو ګډون وی هغه به یوه چینه وی چه دَ هغے اُوبه به دَ

اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا ﴿٦﴾ يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا

دَ الله | چه بهیوی به دوئ هغه | په بهیولو سره | دوئ پوره کوی | خپل نذر | او ویریږی دوئ | له هغه ورځے نه

الله بندګان څښی (او) کوم خوا چه به غواړی بهیوی به ئے . هغوئ خپلے نذرانے پوره کوی او دَ هغے ورځے نه ویریږی

كَانَ شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ﴿٧﴾ وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا

چه مصیبت دَ هغے به | هر ځائے خور وی | او دوئ خوروی | طعام | دَ ده په محبت کښے | مسکین | او یتیم

چه مصیبت به ئے هر طرف ته خور وی ، او دَ الله تعالیٰ په مینه کښے به مسکینانو ، یتیمانو او قیدیانو ته

وَّأَسِيْرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً

او قیدی ته | بیشکه | موږ خوروو په تاسو | دَ الله دَ رضا دپاره | موږ نه غواړو | له تاسو نه | څهٔ بدله

طعامونه ورکوی (او وائی چه) موږ خو تاسو له تش دَ الله په خاطر خوراکونه درکوؤ نه موږ له تاسو نه څه معاوضه

وَّلَا شُكُوْرًا ﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا ﴿١٠﴾

او نه څهٔ شکرګزاری | بیشکه موږ خو ویریږو | له خپل رب نه | په هغه ورځ | چه سخته | (او) ترخه (به وی)

غواړو او نه شکریه . موږ خو له خپل رب نه دَ هغے ورځے (په باره کښے) ویریږو چه ډیره سخته او ترخه به وی

فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ﴿١١﴾

پس بچ به کړی دوئ | الله | له سختئ نه | دَ دغے | ورځے | او ور به کړی دوئ ته | تازګی | او خوشحالی

نو الله به هغوئ له دَ دغے ورځے دَ سختئ نه په امان او ساتی او هغوئ له به تازګی او (زړونو ته ئے) خوشحالی ورکړی

وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔيْنَ فِيْهَا

او بدله به ورکړی دوئ ته | دَ دوئ دَ صبر | جنّت | او دَ ریښمو لباس | ډډے به ئے وهلے وی | په هغے کښے

او دَ صبر په بدله کښے به ورته جنّت او دَ ریښمو جامے ورکړی ، هغه خلقو به په دے کښے په تختونو

عَلَى الْأَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً

په تختونو باندې | نه به وینی | په هغے کښے | ګرمی | او نه یخنه یخنی | او راټیټ به وی

باندې ډډے لګولے وی ، هلته نه خو به هغوئ دَ ګرمئ تاؤ محسوسوی او نه یخنه یخنی . او دَ هغے دَ اُونو سورے

عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ

په دوئ باندې | سوری دَ هغے (دَ اُونو) | او راټیټے به کړے شی | دَ هغے میوے | ښے را ټیټے | او را به وړلے شی

به هغوئ ته نزدے وی او دَ هغے میوے به هم را ټیټے وی او ورته به ایښودے

عَلَيۡهِمۡ بِاٰنِيَةٍ مِّنۡ فِضَّةٍ وَّاَكۡوَابٍ كَانَتۡ قَوَارِيۡرَا۠ ۞١٥ قَوَارِيۡرَا۠ مِنۡ فِضَّةٍ

دوئ ته | لوښي | دَ سپينو زرو | او جامونه | چه وي به دَ ښيښې | ښيښې به وي | دَ چاندئ

شي ، دَ سپينو زرو لوښي او دَ ښيښې ګلاسونه داسے ښيښے چه دَ سپينو زرونه جوړ وي

قَدَّرُوۡهَا تَقۡدِيۡرًا ۞١٦ وَيُسۡقَوۡنَ فِيۡهَا كَاۡسًا كَانَ مِزَاجُهَا

چه اندازه کړی به وی دوی دا | پوره پوره | او څښولے به شي دوئ ته | هلته | جامونه (دَ شرابو) | چه ګډون به وی په هغے

او په اندازه بانډې ئے پیمانه کړی دی او داسے (دَ شرابو) جامونه به ورته څښولے شي چه سونډ به پکښے اچولے

زَنۡجَبِيۡلًا ۞١٧ عَيۡنًا فِيۡهَا تُسَمّٰى سَلۡسَبِيۡلًا ۞١٨ وَيَطُوۡفُ عَلَيۡهِمۡ

دَ سونډو | هغه يوه چينه ده | هلته | چه نامه ئے ده | سلسبيل | او تلل راتلل به کوی | په دوئ بانډې

شوی وی (دا دَ جنت) يوه چينه ده چه نامه ئے سلسبيل ده او داسے خادمان به ترے نه تاؤ راتاؤ

وِلۡدَانٌ مُّخَلَّدُوۡنَ ۚ اِذَا رَاَيۡتَهُمۡ حَسِبۡتَهُمۡ لُؤۡلُؤًا مَّنۡثُوۡرًا ۞١٩ وَ

هلکان | هميشه ځوانان | هر کله چه | ته ووينے دوی | ته به خيال کوے چه دوی | ملغلرے دی | نوسته شوے | او

کيږی چه هميشه به هلکان وی کۀ ته ئے ووينے نو دا خيال به پېدا شي چه خورے ورے ملغلرے دی. او

اِذَا رَاَيۡتَ ثَمَّ رَاَيۡتَ نَعِيۡمًا وَّمُلۡكًا كَبِيۡرًا ۞٢٠ عٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُنۡدُسٍ

هر کله چه | ته ووينے | هلته | نو وبه وينے ته | نعمت | او بادشاهي | ډيره لويه | دَ پاسه دوئ به | جامے وی | دَ باريکو ريښمو

کۀ هغه ځائے ووينے نو ډير لوئے نعمت او غټه بادشاهي به ووينے. په هغوئ بانډې به نرئ ريښمينے شنے

خُضۡرٌ وَّاِسۡتَبۡرَقٌ ۫ وَّحُلُّوۡۤا اَسَاوِرَ مِنۡ فِضَّةٍ ۚ وَسَقٰهُمۡ رَبُّهُمۡ

شنے | او دَ پيړو ريښمو | او دوئ ته به اغوستولے شي | باهوګان | دَ سپينو زرو | او څښوی به دوئ ته | دَ دوئ رب

جامے پرتے وی او غټے ريښمينے هم ، او دَ سپينو زرو باهوګان به ورته اغوستولے شي، او خپل رب به ورته پاکيزه شراب

شَرَابًا طَهُوۡرًا ۞٢١ اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءً وَّكَانَ سَعۡيُكُمۡ مَّشۡكُوۡرًا ۞٢٢

شراب | پاکيزه | بيشکه دا | تاسو دَ پاره ده | بدله | او شو | ستاسو کوشش | قبول .

دَ څښلو دَ پاره ورکوی (او دوئ ته به ووئيلے شي) دا ستاسو بدله ده او ستاسو کوشش (ننی) مقبول شوے دے.

اِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ تَنۡزِيۡلًا ۞٢٣ فَاصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ

بيشکه مونږ | نازل کړو | په تا بانډې | قرآن | په نازلولو سره | پس صبر کوه | په حکم | دَ رب خپل

مونږ په تا بانډې قرآن لږ لږ را نازل کړے دے . نو ته دَ خدائے په حکم ټينګ ولاړ وسيږه

وَلَا تُطِعۡ مِنۡهُمۡ اٰثِمًا اَوۡ كَفُوۡرًا ۞٢٤ وَاذۡكُرِ اسۡمَ رَبِّكَ بُكۡرَةً

او حکم مه منه | له دوئ نه | دَ چا ګناهګار | يا ناشکره | او ياد وه | نامه | دَ رب خپل | سحر

او په دوئ کښے دَ چا فاسق يا کافر خبره مۀ آوره. او سحر ماښام دَ هغۀ دَ نامے ذکر

وَّاَصِيۡلًا ۞٢٥ وَمِنَ الَّيۡلِ فَاسۡجُدۡ لَهٗ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلًا طَوِيۡلًا ۞٢٦

او ماښام | او په ځنے حصو دَ شپه کښے | پس ته سجده کوه | دۀ ته | او دَ دۀ پاکی بيانوه | په شپه کښے | تر ډيره وخته

کوه . او دَ شپے په يوه برخه کښے هم هغۀ ته سجده کوه او دَ هغۀ تسبيح دَ شپے په لويه برخه کښے لوله

قرأ حفص بغير الالف في الوصل فيهما ووقف على الاول بالالف و على الثاني بغير الف ١٢

ع ٣٠ / ٢١

اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴿٢٧﴾

بیشکه | دا خلق | غواړی | زر (دنیا) | او دوی پریږدی | دَ خان نه وروستو | يوه ورځ | درنه

بیشکه دے خلقو خو دُنیا خوښه کړے ده او وړاندې راتلونکے یوه درنه ورځ ئے بالکل پریښودے ده

نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ۚ وَاِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ

مونږ پیدا کړل دوی | او مونږ مضبوط کړل | جوړونه دَ دوی | او هر کله چه وُغواړو مونږ | په بدل ئے به راولو | په شان دَ دوی یو قوم

هم مونږه دوی پیدا کړی دی او دَ دوی بندونه مو کلک کړی دی او چه کله وغواړو نو دَ دوی په ځائے به دَ دوی

تَبْدِيْلًا ﴿٢٨﴾ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿٢٩﴾

په بدلولو سره | بیشکه | دا | یو نصیحت دے | نو څوک چه غواړی | وُدِ نیسی | دَ خپل رب طرف ته | لاره

غونتې نور خلق بدل کړو، دا (قرآن) خو یو نصیحت دے نو څوک چه وُغواړی نو دَ خپل رب طرف ته دِ لاره وُنیسی

وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٣٠﴾

او نهٔ غواړئ تاسو | مګر | دا چه | غواړی | الله | بیشکه | الله | دے | پوهه | دَ حکمت خاوند

او تاسو خو بس هغه څهٔ غوښتے شئ چه الله ئے وُغواړی بیشکه الله تعالیٰ دَ ډیر علم دَ غټ حکمت خاوند دے

يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۭ وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٣١﴾ ٢ ع ٩ ٢٠

داخلوی | څوک چه غواړی | په خپل رحمت کښے | او ظالمان چه دی | دهٔ تیار کړے دے دوی له | عذاب دردناک.

هغه چه څوک غواړی نو په خپل رحمت کښے ئے داخل کړی او ظالمانو دَ پاره الله دردناک عذاب تیار کړے دے

سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورۃ مرسلٰت په مکه کښے نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ٥٠ آیتونه او ٢ رکوع دی

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ﴿١﴾ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ﴿٢﴾ وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ﴿٣﴾

قسم دے په (هواګانو) رالیږلے شوو | نرمو | بیا په تیزو هواګانو | زوردارو | بیا خوروونکو (وریځو لره) | په ښه شان خورولو

په هغه بادونو قسم دے چه رالیږلے شی ، بیا په هغه بادونو چه تیز الوزی ، بیا په هغے چه (وریځے) خوروی

فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ﴿٤﴾ فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ﴿٥﴾ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ﴿٦﴾

بیا جدا کوونکی هواګانے | په جدا کولو | بیا دَ هغے چه راکوزوی | ذکر (وحی) لره | چه عذر دی | یا ویرول وی

بیا په هغے چه (وریځے) کړے وړے بوځی، بیا په هغه فرښتو قسم چه وحی راکوزوی (اوری) په توبه یا په ویرولو.

اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾ فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ

بیشکه | دَ څهٔ چه تاسو سره وعدے کولے شی | خامخا کیدونکے دی | بیا هر کله چه | ستوری | بے نوره کړے شی | او هر کله چه | آسمان

بیشکه تاسو سره چه کومه وعدے کولے شی هغه خامخا پوره کیدونکے ده ، نو کله وخت چه ستوری بے نوره شی ، او هر کله چه آسمان

فُرِجَتْ ﴿٩﴾ وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾ وَاِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ﴿١١﴾

وُشلیږی | او هر کله چه | غرونه | والوزولے شی | او هر کله چه | پیغمبران | په مقرر وخت جمع کړے شی

وُشلیږی ، او کله وخت چه غرونه والوزولے شی ، او کله وخت چه ټول پیغمبران په مقرر وخت را جمع کړے شی.

لِاَیِّ یَوۡمٍ اُجِّلَتۡ ﴿١٢﴾ لِیَوۡمِ الۡفَصۡلِ ﴿١٣﴾ وَمَاۤ اَدۡرٰىكَ مَا یَوۡمُ الۡفَصۡلِ ﴿١٤﴾

دَ کومې ورځې دَپاره | تاخیر شوې وو | دَپاره دَ ورځې | دَ فیصلې | او تا ته څهٔ معلومه ده | چه څهٔ ده | ورځ دَ فیصلې

دا کار کومې ورځې ته وړاندې شوې دې؟ دَ فیصلې ورځ ته. او تا ته څهٔ معلومه ده چه دَ فیصلې ورځ څنګه ده؟

وَیۡلٌ یَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِیۡنَ ﴿١٥﴾ اَلَمۡ نُهۡلِكِ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتۡبِعُهُمُ

تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼړونکو دَپاره | آیا نهٔ دي هلاک کړي موږ | پخواني خلق | بیا به | موږ دا ولو دوی پسې

په دغه ورځ دروغ ګڼړونکو دَپاره بربادي ده. آیا موږ پخواني خلق تباه کړي نهٔ دي. بیا به دا وروستني هم

الۡاٰخِرِیۡنَ ﴿١٧﴾ كَذٰلِكَ نَفۡعَلُ بِالۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿١٨﴾ وَیۡلٌ یَّوۡمَئِذٍ

وروستني | دغه شان | موږ کوو | دَ ګناهګارانو سره | تباهي ده | په دغه ورځ

ورپسې بوځو. موږ مجرمانو سره هم دغه شان معامله کوو. په دغه ورځ دروغ ګڼړونکو دَ

لِّلۡمُكَذِّبِیۡنَ ﴿١٩﴾ اَلَمۡ نَخۡلُقۡكُّمۡ مِّنۡ مَّآءٍ مَّهِیۡنٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلۡنٰهُ

دروغ ګڼړونکو دَپاره | آیا موږ نهٔ یئ پیدا کړي تاسو | له حقیرو اوبو نه | پس کیښودې موږ هغه

پاره غټه بربادي ده. آیا موږ تاسو دَ بې قدره اوبو نه پیدا کړي نهٔ یئ؟ بیا مو هغه اوبهٔ په یو

فِیۡ قَرَارٍ مَّكِیۡنٍ ﴿٢١﴾ اِلٰى قَدَرٍ مَّعۡلُوۡمٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرۡنَا ۖ فَنِعۡمَ

په ځائې محفوظ کښې | تر اندازې | مقررې پورې | پس موږ اندازه وګوله | نو څهٔ ښه

سنبال ځائې کښې کیښودې، یو مقررې وخت پورې. غرض دا چه موږ یوه اندازه مقرر کړه نو څهٔ ښه اندازه

الۡقٰدِرُوۡنَ ﴿٢٣﴾ وَیۡلٌ یَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِیۡنَ ﴿٢٤﴾ اَلَمۡ نَجۡعَلِ الۡاَرۡضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾

اندازه کوونکي یُو (موږ) | تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼړونکو دَپاره | آیا نهٔ ده جوړه کړې موږ | زمکه | جمع کوونکې

مقرر کړه. په دغه ورځ دروغ ګڼړونکو دَپاره غټه خرابي ده. آیا موږ زمکه رانغښتونکې جوړه کړې نهٔ ده؟

اَحۡیَآءً وَّاَمۡوَاتًا ﴿٢٦﴾ وَّجَعَلۡنَا فِیۡهَا رَوَاسِیَ شٰمِخٰتٍ وَّاَسۡقَیۡنٰكُمۡ

دَ ژوندو | او | دَ مړو | او پیدا کړي دي موږ | په دې کښې | غرونه | اوچت اوچت | او موږ څښولې دي په تاسو

هم دَ ژوندو او هم دَ مړو. او موږ په زمکه باندې اوچت اوچت غرونه ایښې نهٔ دي؟ او موږ په تاسو خوږې

مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَیۡلٌ یَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِیۡنَ ﴿٢٨﴾ اِنۡطَلِقُوۡۤا اِلٰى مَا كُنۡتُمۡ بِهٖ

اوبهٔ | خوږې | تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼړونکو دَپاره | روان شئ | طرف دَ هغه څهٔ ته | چه تاسو به هغه

اوبهٔ څښولې دي. په دغه ورځ دروغ ګڼړونکو دَپاره غټه خرابي ده (وبه ویلې شي ورته) ځئ ورشئ هغه (عذاب) ته چه

تُكَذِّبُوۡنَ ﴿٢٩﴾ اِنۡطَلِقُوۡۤا اِلٰى ظِلٍّ ذِیۡ ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِیۡلٍ وَّلَا یُغۡنِیۡ

دروغ ګڼړلو | روان شئ | طرف دَ سوري ته | چه درې څانګې والا دې | نهٔ هغه سوری ورکوونکې | او نهٔ بچ کوي

تاسو به دروغ ګڼړلو، تاسو (دَ دوزخ دَ لوګي) هغه سوري ته لاړ شئ چه دَ هغې درې څانګې دي چه یخې نهٔ (یخ) سوری شته او نهٔ

مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾ اِنَّهَا تَرۡمِیۡ بِشَرَرٍ كَالۡقَصۡرِ ﴿٣٢﴾ كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ

دَ ګرمۍ نه | بیشکه دا به | اُولي | انګارې | په شان دَ محلونو | داسې لکه چه دا | اوښان دي

دَ اور دَ تاؤ نه څوک بچ کوي. هغه اور به دومره غټې غټې انګارې وُلي لکه (لوړې ودانۍ) ماڼۍ. لکه چه هغه دَ زیړ رنګ

صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٤﴾ هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَلَا

ډ زېړ رنګ | تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼونکو د پاره | دا | هغه ورځ ده | چه دوئ به خبرې نه کوي | او نه به

اوښان دي، په دغه ورځ دروغ ګڼونکو د پاره تباهي ده، دا خو هغه ورځ ده چه دوئ به خبرې هم نه شي کولے. او نه به

يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٧﴾ هٰذَا

اجازت ورکولے شي | دوئ ته | چه دوئ عذر وړاندې کړي | بربادي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼونکو د پاره | دا ده

دوئ ته اجازت وي چه عذر پېش کړي، په دغه ورځ دروغ ګڼونکو د پاره غټه تباهي ده، هم دغه خو

يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ جَمَعْنٰكُمْ وَالْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٨﴾ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ

ورځ | د فيصلے | موږ به جمع کړو تاسو | او پخواني خلق | پس که چرے وي | تاسو سره | څه تدبير

د فيصلے ورځ ده، موږ به تاسو هم راجمع کړو او پخواني هم. نو که تاسو څه چل ول چورول غواړئ نو زما

فَكِيْدُوْنِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٠﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ ع ١

نو زما خلاف وکړئ | تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼونکو د پاره | بېشکه | پرهيزګاران به | په سورو (کښې)

په مقابله کښې جوړ کړئ. په دغه ورځ دروغ ګڼونکو د پاره غټه بربادي ده. بېشکه (د الله نه) وېرېدونکي (د هغه په رحمت)

وَّعُيُوْنٍ ﴿٤١﴾ وَّفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٤٢﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

او په چينو (کښې) | او ميوو (کښې وي) | څه چه به | دوئ غواړي | خورئ | او څښئ

سورې او چينو کښې وي او (هغوئ به) په هغه ميوو کښې وي چه د هغوئ به خوښے وي (ورته به ويلے شي چه) ښه فراخه

هَنِيْٓـئًا ۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي

په مزے سره | په بدله د هغه کارونو | چه تاسو به کول | بېشکه موږ | هم دغه شان | جزا ورکوو

خورئ څښئ، د هغه عملونو په بدله کښې چه تاسو به کول. (او) موږ نيکانو له هم دغه شان

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٥﴾ كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا

نيکانو ته | تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼونکو د پاره | خورئ | او فائده اوچته کړئ

بدله ورکوو. دروغ ګڼونکو د پاره په دغه ورځ لويه خرابي ده. (اے کافرانو!) يو څو ورځے وخورئ او لږه

قَلِيْلًا اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٧﴾

لږه | بېشکه تاسو | مجرمان يئ | تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼونکو د پاره

فائده واخلئ، يقيناً تاسو مجرمان يئ. په دغه ورځ د دروغ ګڼونکو د پاره لويه خرابي ده.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

او هر کله چه | وويلے شي | دوئ ته | سر ټيټ کړئ | نو دوئ سر نه ټيټوي | تباهي ده | په دغه ورځ

او څه وخت چه دوئ ته وويلے شي (چه د الله په وړاندې) ټيټ شئ نو دوئ نه ټيټېږي. په دغه ورځ دروغ ګڼونکو د

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٠﴾ ع ٢

د دروغ ګڼونکو د پاره | نو په کومه | خبره باندې به | پس له قرآن نه | دوئ ايمان راوړي.

پاره لويه بربادي ده، آخر د دے (قرآن) نه پس به په کومه خبره دوئ ايمان راوړي.

القرآن الكريم

آسان ترجمہ

تعلیم القرآن

تکی پہ تکی
او روانہ ترجمہ

مولف:- ڈاکٹر محمد دین

سُوْرَةُ النَّبَاِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورہ نبا، پہ مکہ کښے نازل شوا | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دې کښے ۴۰ آیتونه او ۲ رکوع دی

د الله په نامه شروع چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ① عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ② الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ

د څه څيز په باره کښے | دوئ له يو بل نه تپوس کوي | د يو لوئے خبر په حقله | هغه چه دوئ په هغے کښے

داخلق د څه څيز په حقله د يو بل نه تپوس کوي ، د هغه لوئے خبر (قيامت) په حقله چه دوئ په کښے

مُخْتَلِفُوْنَ ③ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ④ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ⑤

اختلاف کوي | هيڅکله نه | ډير زر به دوئ پوهه شي | بيا | هيڅکله نه | زر به دوئ پوهه شي۔

اختلاف کوي ؟ داسے پکار نه دی دوئ به زر پوهه شي او داسے پکار نه دی دوئ به زر پوهه شي (چه قيامت حق

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ⑥ وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ⑦ وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ⑧

آيا نه ده جوړه کړے مونږ | زمکه | يو فرش؟ | او غرونه | ميخونه | او مونږ پيدا کړي تاسو | جوړے جوړے

دے) آيا مونږ زمکه فرش کړے نه ده ؟ او غرونه مونږ ميخونه کړي نه دي؟ او مونږ تاسو جوړے جوړے پيدا کړي۔

وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ⑨ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ⑩ وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ

او جوړه کړے ده مونږ | خوب ستاسو | ارام | او جوړه کړه مونږ | شپه | لباس (پرده) | او جوړه کړه مونږ | ورځ

او خوب مو درله آرام ورکړونکے کړو ، او مونږ شپه د پردے څيز جوړ کړو او ورځ مو د روزئ ګټلو

مَعَاشًا ⑪ وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ⑫ وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ⑬

(ذريعه) معاش | او جوړ کړل مونږ | د پاسه ستاسو | اووه | سخت (آسمانونه) | او جوړه کړه مونږ | يوه ډيوه | پر قيدونکے

ذريعه ورکرځولے . او مونږ تاسو د پاسه اووه مضبوط آسمانونه جوړ کړل او مونږ يوه روښانه ډيوه (يعني نمر) جوړه کړه

وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ⑭ لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا

او را نازل کړے مونږ | له ډکو وريځونه | اوبه | ښه زوروريدونکے | چه راوباسو مونږ | په دے سره | دانه

او مونږ له ډکو وريځونه په شيبو شيبو باران راوورولو ، چه مونږ له دے (باران) نه غله او ګياه

وَّنَبَاتًا ⑮ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ⑯ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيْقَاتًا ⑰ يَّوْمَ يُنْفَخُ

او ګياه | او باغونه | ډير ګڼ | بيشکه | ورځ د فيصلے | يو مقرر وخت دے | هغه ورځ چه پوک به وهلے شي

او ګوروګور باغونه رابرسيره کړو ، بيشکه د فيصلے د ورځے وخت مقرر دے چه شپيلئ به

فِي الصُّوْرِ فَتَاْتُوْنَ اَفْوَاجًا ⑱ وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ⑲

په شپيلئ کښے | پس رابه شئ تاسو | ډلے ډلے | او پرانستے به شي | آسمان | نو شي به | دروازے

پوک وهلے شي ، نو تاسو به ټولی ټولی راځئ ، او آسمان به پرانستے شي نو ټول به دروازے دروازے شي

وَّسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ⑳ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ㉑

او روان به کړے شي | غرونه | نو شي به | شګه | بيشکه | دوزخ | دے | انتظار کوونکے۔

او غرونه به والوزولے شي نو هغه به د شګو په شان شي ، بيشکه جهنم په تاک کښے دے۔

لِّلطَّاغِينَ مَاٰبًا ﴿٢٢﴾ لّٰبِثِينَ فِيهَآ اَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَّلَا

دَ پاره دَ سرکشانو | ټیکاځی ده | ایسارېدونکي | په دې کښې | تر اوږدو مودو | نه به څکي دوی | په دې کښې | یخوالے | او نه

دَ سرکشانو ټیکاځی ده چه په مودو مودو به په کښې ووسیږي، نه به په کښې دَ یخني خوند څکي او نه دَ څښلو

شَرَابًا ﴿٢٤﴾ اِلَّا حَمِيمًا وَّغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿٢٦﴾ اِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ

دَ څښلو څه څیز | مګر | ګرمې اوبه | او زوې | (دا به) بدله وي | پوره پوره | بیشکه دوی | اُمید نه ئ لرلو

څه څیز، سوا دَ یشیدلو اوبو او دَ وینو زوو نه (دا) پوره پوره بدله ده، دا ځکه چه دوی دَ حساب کتاب (دَ

حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَّكَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ كِتٰبًا ﴿٢٩﴾

دَ حساب | او دروغ به ئې ګڼل | زمونږ آیتونه | په دروغ ګڼلو سره | او هر څیز | مونږ شمیرلے دے | په کتاب کښې

ورځې) اُمید نه لرلو، او زمونږ آیتونه ئې سرو پا دروغ ګڼل او مونږ هر څیز په یو کښې را جمع کړے دے.

فَذُوقُوا فَلَنْ نَّزِيدَكُمْ اِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾

پس وڅکئ | پس هیڅ کله به زیات نه کړو مونږ تاسو ته | مګر عذاب | بیشکه | پرهیزګارانو دَ پاره | کامیابي ده.

نو اوس خوند وڅکئ مونږ به تاسو ته نور څه نه خو هم دغه عذاب درزیاتوو. بیشکه پرهیزګارو له کامیابي ده.

حَدَآئِقَ وَاَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَّكَوَاعِبَ اَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَّكَاْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا

باغونه | او انګور (به وي) | او پیغلې جینکۍ | همزولې (به وي) | او پیالې | ډکې شوې | دوی به نه آوري | په هغې کښې

(دوی دَ پاره) باغونه او انګور به وي او همزولې پیغلې جینکۍ او ډک تر غاړې جامونه دوی به هلته نه عبث

لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾

عبث خبرې | او نه | دروغ | بدله | ستا دَ رب له طرفه | در کولے به شي | په حساب

خبرې آوري او نه دروغ. دا بدله ستا دَ رب له طرف نه پوره پوره انعام دے.

رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ

چه رب دے دَ آسمانونو | او دَ زمکې | او څه چه | دَ دې دواړو په مینځ کښې دي | ډیر مهربان | دوی وس نه لري | دَهٔ سره

چه دَ آسمانونو او دَ زمکې او دَ دې دواړو ترمینځه دَ څیزونو پالونکے دے، مهربان دے، هیڅوک توان نه (هیڅ قسم له

خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا لَّا يَتَكَلَّمُونَ اِلَّا

دَ خبرې کولو | په کومه ورځ چه به | ودرېږي | رُوحُ الامین | او فرښتې | صف تړلې | خبرې به نه شي کولے | مګر

مطالبه نه شي کولے، په هغه ورځ چه جبرائیلؑ او ټولې فرښتې به صف تړلې ولاړې وي، هیڅوک به خبرې نه شي

مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَنْ شَآءَ

هغه چه | اجازت ورکړي | دهٔ ته | رحمٰن | او هغه به وائي | خبره سمه | دا | ورځ ده | حقه | نو څوک چه | غواړي

کولے خو چا ته چه مهربان خدایٔ اجازت ورکړي او هغه خبره هم سمه کوي، دغه ورځ حقه ده، نو دَ چا چه خوښه

اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهِ مَاٰبًا ﴿٣٩﴾ اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا ۵ يَّوْمَ

ونیسي | خپل رب سره | ټیکاځی | بیشکه مونږ | اُویرولئ تاسو | دَ یو عذاب | چه نژدې راتلونکے دے | په هغه ورځ

وي نو خپل رب ته دِ رجوع وکړي، بیشکه مونږ تاسو دَ نژدې راتلونکي عذاب نه اُویرَوَلئ، په هغه ورځ چه

يَنظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا ﴿٤٠﴾ ع

ويني به | بنيادم | څه چه | وړاندې ليږلي وي | دده دواړو لاسونو | او وائي به | كافر | اے كاش! | زهٔ وے | خاوړے

هر سړے به خپل عمل په خپلو سترګو ويني او كافر به وائي چه اے كاش! كه زهٔ خاوړو سره خاوړے وے.

سُورَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

سورة نازعات په مكه كښے نازل شو او په دے كښے ٤٦ آيتونه او ٢ ركوع دي | (شروع) د الله په نامه چه ډير مهربان ډير زيات رحم كوونكے دے

د الله په نامه شروع كوم چه ډير مهربان ډير زيات رحم خاوند دے

وَالنَّازِعَاتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَالنَّاشِطَاتِ نَشْطًا ﴿٢﴾ وَالسَّابِحَاتِ سَبْحًا ﴿٣﴾

قسم دے په روح راويستونكو | (په جبر و زور سره) ورننوتو | او په هغه چه په نرمئ روحونه راوباسي | او په لامبو وهونكو | په تيزئ سره

قسم دے په هغه فرښتو چه په سختئ سره روحونه راوباسي او په هغه چه ډير په نرمئ روحونه راكاږي او چه (په فضا كښے) لامبو وهي

فَالسَّابِقَاتِ سَبْقًا ﴿٤﴾ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾

بيا په وړاندې كيدونكو | وړاندې كيدل سره | بيا په انتظام كوونكو | د هر كار | په هغه ورځ چه | وبه خوزيږي | خوزيدونكے.

او بيا تړيله ور وړاندې كيږي، او د هر كار تدبير كوي (چه قيامت به راشي) په هغه ورځ چه رپيدونكے زمكه وړپيږي

تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾

را به شي ورپسے | بل ورو ستو راتلونكے | زړونه به | په دغه ورځ | درزيږي | سترګے به د دوئ | ټيټے وي.

ورپسے به دويم (زوردار آواز) راشي، ډير زړونه به په دغه ورځ درزيږي د هغوئ سترګے به كوزے وي.

يَقُولُونَ أَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَإِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾

دوئ وائي | آيا مونږ به | بيرته ګرځولے شو | ورومبئ حالت ته؟ | آيا هركله چه شو مونږ | هډوكي | رژيدلي

دوئ وائي چه بنه! مونږ به لا بيا هم راژوندي كيږو؟ د هغه نه پس چه رژيدلي هډوكي شو؟

قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا

دوئ وائي | چه دا خو به | دغه وخت | واپسي وي | د تاوان | پس بيشكه | هغه به | يوه چغه وي | پس د وخت به

وائي چه بيرته دا خو به هسے د تاوان نه ډكه واپسي وي (واوره!) هغه خو به بس يوه زوردار چغه وي، او دوئ به

هُم بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَىٰ ﴿١٥﴾ إِذْ نَادَاهُ رَبُّهُ

دوئ وي | په يوه ډاګه | آيا رسيدلے ده تاته | خبره | د موسىٰ | هركله چه | آواز وكړو هٔ ته | د ده رب

فوراً ميدان (د حشر) كښے موجود وي. آيا تاته د موسىٰ د واقعے خبر رارسيدلے دے، چه خپل رب ورته د طوىٰ په

بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلْ

په وادئ | پاكه | د طوىٰ كښے | لاړ شه | طرف د فرعون ته | بيشكه ده | سركشي وكړه | پس ووايه

پاكيزه وادئ كښے آواز وكړه (او ورته حكم وكړو چه) فرعون ته ورشه چه هغه د حد نه تيرشوے دے نو ورته ووايه

هَل لَّكَ إِلَىٰ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾

آيا ستا (خواهش شته) | چه ته پاك شے | او زهٔ لاره وښايم تاته | ستا د رب طرف ته | چه ته او ويريږے.

چه آيا د پاكيدو خواهش لرے؟ او چه زهٔ درته د خپل رب لاره وښايم چه ته ترے نه ويره وكړے

فَاَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصٰى ﴿٢١﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿٢٢﴾

نو ده ورښوده له ده ته | هغه نخښه | لویه | نو ده دروغ وګڼل له | او نافرماني ئې وکړه | بیا | بیرته وګرځید نو | کوښش کوونکے

نو هغهٔ ته ئې یوه لویه معجزه وښودله، نو (فرعون) هغه دروغ وګڼل او نافرماني ئې وکړه، بیا مخ په شا په منډه لاړ

فَحَشَرَ فَنَادٰى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ﴿٢٤﴾ فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ

بیائے جمع کړل | بیائے آواز وکړو | پس ئے وویل | چه زهٔ | ستاسو ربیم | اوچت | پس ونیولو دے | الله | په عذاب

نو خلق ئے راټول کړل او اعلان ئے وکړو. نو وئے ویل چه زهٔ ستاسو لوئے رب یم. نو الله تعالیٰ په آخرت او دنیا دواړو

الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿٢٦﴾ ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ

د آخرت | او د دُنیا کښے | بیشکه | په دے کښے | عبرت دے | د هغه چا دپاره | چه ویریږی | آیا تاسو | ګران یئ

کښے عذاب ورکړو - په دے کښے هغه خلقو دپاره عبرت دے چه (د الله نه) ویریږی. آیا ستاسو پیدا اوښت

خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ ۭ بَنٰىهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ﴿٢٨﴾ وَاَغْطَشَ

په پیدا وښت کښے | یا آسمان | چه هغه ئے جوړ کړو | اوچت ئے کړو | چت د هغے | بیائے برابر کړو هغه | او تیاره ئے کړه

ګران دے او که د آسمان؟ چه هغه ئے جوړ کړو، د هغے چت ئے اوچت کړو او برابر ئے کړو. او شپه ئے ورله

لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ﴿٢٩﴾ وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴿٣٠﴾ اَخْرَجَ مِنْهَا

شپه د هغے | او راوے ویستله | رڼا د ورځے | او زمکه ئے هم | د دے نه پس | وغوړوله | راوے ویستے | له دے نه

تیاره کړه او ورځ ئے ورله رڼا او ښائسته کړه، او زمکه ئے د دے نه پس وغوړوله. د هغے نه ئے اوبهٔ او

مَآءَهَا وَمَرْعٰىهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ اَرْسٰىهَا ﴿٣٢﴾ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٣﴾

اوبهٔ د دے | او ګیاه د دے | او غرونه ئے | محکم ودرول | (دا) فائده ده | تاسو دپاره | او دپاره د څاروو ستاسو

درشو ګانے راوویستلے - او غرونه ئے پرے قائم کړل، (دا هرڅه) ستاسو او ستاسو د څاروو د فائدے دپاره دی

فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ مَا سَعٰى ﴿٣٥﴾

بیا هرکله چه راشی | هغه هنګامه | لویه | په کومه ورځ چه | یاد به کړی | انسان | څه چه ده کوشش کړے وی

نو کله وخت چه (د قیامت) هغه لویه هنګامه راشی، نو هغه ورځ به انسان خپل عملونه یو په یو رایاد شی،

وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ﴿٣٦﴾ فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ﴿٣٧﴾ وَاٰثَرَ

او راښکاره به کړے شی | دوزخ | هر لیدونکی دپاره | پس چا چه سرکشي وکړه | او غوره ئے کړے وی

او هر لیدونکی ته به دوزخ راښکاره کړے شی، نو چا چه سرکشي کړی وی، او د دُنیا ژوند

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿٣٩﴾ وَاَمَّا مَنْ خَافَ

ژوند | د دُنیا | نو بیشکه | هم دوزخ | (د ده) ټیکاڼه ده | او لیکن | څوک چه | ویریدلے وی

ئے غوره کړے وی، نو دوزخ به د هغهٔ ټیکاڼه وی، او څوک چه د خپل رب په وړاندې

مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿٤٠﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ

په مخکښے له اودریدو نه | د رب خپل | او منع کړے ئے وی | نفس | له خواهشاتو نه | نو یقینًا | جنت

د پیشئ نه ویریدلے وی، او خپل نفس ئے د خواهشاتو نه منع کړے وی، نو جنت د هغهٔ

ع ۲

هِيَ الْمَأْوٰى ﴿٤١﴾ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰهَا ﴿٤٢﴾

دَ دهٔ ټيکاونړه ده | دوی پوښتنه کوی له تا نه | دَ قيامت په حقله | چه کله به وی | واقع کيدل دَ دے

ټيکاونړه ده دوی له تا نه دَ قيامت په حقله پوښتنه کوی چه کله به راځي ؟

فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰىهَا ﴿٤٣﴾ اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا ﴿٤٤﴾ اِنَّمَآ اَنْتَ

څهٔ تعلق دے | ستا | دَ دے دَ علم سره | هم ستا دَ رب طرف ته ده | انتها دَ دے | بيشکه ته خو

تا ته دَ دے وخت څهٔ معلوم دے ؟ دَ دے اخري علم صرف الله سره دے ، ستا کار خو صرف

مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰىهَا ﴿٤٥﴾ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْٓا

ويرّوونکے يې | هغه څوک چه ويريږي له دے نه | لکه چه دوی | په کومه ورځ | وو وينې هغه | (نو دا به ښکاری) چه دوی نهٔ دی پاتې شوی

هغه څوک ويروَل دی چه دَ قيامت نه ويريږي ، دوی چه دَ قيامت ورځ ووينې نو دا به وی لکه چه (په دنيا کښې)

اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰىهَا ﴿٤٦﴾

مګر | يو ماښام | يا په قدر دَ څاښت

هيڅ دَ نور دَ زيری یا دَ څاښت هومره وخت تير کړے وی

سُوْرَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سوره عبس په مکه کښې نازل شوې او په دے کښې ۴۲ آيتونه او يو رکوع دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان ډير زيات رحم کوونکے دے

دَ الله په نامه شروع کوم چه مهربان دَ ډير زيات رحم خاوند دے

عَبَسَ وَتَوَلّٰٓى ﴿١﴾ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰٓى ﴿٣﴾

ناراضه شو | او مخ ئے وا ړولو | چه راغے ورته | يو ړوند | او تا ته څهٔ خبر دے | چه شايد دے | پاک شی

تندي ئے تريو کړو او مخ ئے وا ړولو چه يو ړوند ورته راغے . او تا ته څهٔ معلومه ده چه هغه (په دين زده کولو) پاک شی.

اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ﴿٤﴾ اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى ﴿٥﴾ فَاَنْتَ لَهٗ

يا دے نصيحت حاصل کړی | نو نفع ورکړی دهٔ ته | نصيحت | ليکن | څوک چه | غنی دے | نو ته | طرف دَ هغهٔ ته

يا نصيحت اُومنی نو هغه ورته فائده ورکړی ، پاتے شو هغه څوک چه بے پرواه دے ، نو تا هغهٔ ته توجه

تَصَدّٰى ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ﴿٧﴾ وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعٰى ﴿٨﴾

مخ کوے | او نشته په تا (څهٔ ګناه) | چه هغه پاک نهٔ شی (اختيار دی) | او ليکن | هغه څوک | چه راغے تا ته | په منډه

وکړه . او ستا پکښے څهٔ تاوان دے که هغه پاک نشی ؟ او څوک چه تا له په منډه منډه راغے .

وَهُوَ يَخْشٰى ﴿٩﴾ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ﴿١٠﴾ كَلَّآ اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَنْ شَآءَ

او دے ويريږي (دَ الله نه) | پس ته | له هغهٔ نه | غفلت کوے | هيڅ کله نه | بيشکه دا | يو نصيحت دے | نو څوک چه | غواړی

او هغه (دَ الله نه) ويريږي ، نو ته دَ هغهٔ نه بے پرواه شوے ، بيا دا سے مهٔ کوه دا خو يو نصيحت دے نو چه دَ چا خوښه وی

ذَكَرَهٗ ﴿١٢﴾ فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾ بِاَيْدِيْ سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾

دا دِ ياد کړی | په صحيفو کښے | چه عزتمند دی | ډيرے اُوچتے | (او) پاکے دی | په لاسونو کښے دَ (هغه) ليکونکو دی

هغه دِ قبول کړی ، په عزتمندو صحيفو کښے دے چه اُوچتے او پاکيزه دی ، دا دَ هغے ليکونکو (فرښتو) په لاسونو کښے دی

ركوع

وقف لازم

كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾ قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ﴿١٧﴾ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ ﴿١٨﴾

چه عزتمندان دي | نیک کرداره دي | هلاک شي | انسان | چه څومره ناشکره دی | له کوم یو څیز نه | الله پیدا کړو دے۔

چه عزتمند او نیکانے دي، بنیادم دې هلاک شي دے څومره ډیر ناشکره دے ، دَ څومره حقیر څیز نه الله پیدا کړے دے

مِنْ نُّطْفَةٍ ؕ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿١٩﴾ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ اَمَاتَهٗ

له یوے نطفے نه | دے ئے پیدا کړو | بیا ئے اندازه ئے کړو دے | بیا ئے | لاره | آسانه کړه ده ته | بیا ئے | مړ کړو دے

دَ یو څاڅکی نه الله پیدا کړے دے بیا ئے په یوه خاص اندازه جوړ کړو ، بیا ئے ورته لاره آسانه کړه ، بیا ئے مړ کړو نو قبر

فَاَقْبَرَهٗ ﴿٢١﴾ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ﴿٢٣﴾

بیا ئے په گور کړو دے | بیا هر کله چه | وغواړی | دوباره به ئے راپاڅوی | هرگز نه! | دَهٔ تعمیل ونه کړو | څه چه ئے دهٔ ته حکم وکړو

کښے ئے کیښودو ۔ بیا چه کله ئے خوښه شي نو راژوندے به ئے کړی، البته دهٔ (دَ خپل رب) حکم پوره نهٔ کړو ۔

فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿٢٤﴾ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا

پس پکار ده چه وگوری | انسان | دَ خپل طعام طرف ته | چه مونږ راوورولے | اوبهٔ په راوړولو سره | بیا مونږ وچوله

نو بنیادم له پکار دی چه خپل خوراک ته وگوری ، چه مونږه اوبهٔ راووروے ، بیا مو زمکه

الْاَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَّزَيْتُوْنًا

زمکه | په چولو سره | بیا راوټوکول مونږ | په دے کښے | غله | او انگور | او سبزیانے | او زیتون

وچوله ، نو په هغے کښے مو غلے او انگور او ترکاری او ښونهٔ

وَّنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ

او قجورے | او باغونه | گڼ | او میوے | او گیاه | دَ ژوند سامان | تاسو دَ پاره

او قجورے او گڼ گور باغونه او رنگ رنگ میوے او گیاه زرغون کړل چه ستاسو او ستاسو دَ څاروو

وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾ فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ﴿٣٤﴾

او ستاسو دَ څاروو (دَ پاره) | بیا هر کله چه | راشی | آواز سخت | په هغه ورځ | چه تښتی به | سړے | له خپل ورور نه

په کار راځی ، نو هر کله چه (دَ قیامت) چغه راشی ، په دغه ورځ به سړے دَ خپل ورور او

وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِيْهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ

او له خپلے مور نه | او له خپل پلار نه | او له خپلے ښځے نه | او له خپلو ځامنو نه | هر سړی | ته به | له دوئ نه | په دغه ورځ

خپلے مور او خپل پلار، او خپلے ښځے او خپل اولاد نه تښتی ، چه په دوئ کښے دَ هر سړی به داسے حال وی چه

شَاْنٌ يُّغْنِيْهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾

یو فکر وی | چه دے به لا تعلقه کړی | څهٔ مخونه به | په دغه ورځ | روښانه وی | خندیدونکی به وی | خوشحاله به وی ۔

دَ بل (دَ یو بل نه) به ئے غافله کړے وی ، څهٔ مخونه به په دغه ورځ روښانه وی خاندی به خوشحاله به وی ۔

وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾

او څهٔ مخونه به | په دغه ورځ | (داسے وی) چه په هغے به | دوړه وی | خوره به وی په هغے باندے | تورواله

او څهٔ مخونه به په دغه ورځ خړ وی ، چه دَ غم تیارهٔ به پرے راخوره شوی وی

أُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَفَرَةُ ٱلۡفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾ ع

هم دا خلق دي | کافران | بد کاره

هم دغه کسان بدعمله کافران دي۔

سُورَةُ ٱلتَّكۡوِيرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ | تِسۡعٌ وَّعِشۡرُونَ اٰيَةً وَّرُكُوۡعٌ وَّاحِدٌ

سورۃ تکویر په مکه کښې نازل شوا و | (شروع) د الله په نامه چه ډېر مهربانه ډېر زيات رحم کوونکے دے | په دې کښې ۲۹ آيتونه او يو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان ډېر زيات رحم خاوند دے

إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ﴿١﴾ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ

هر کله چه | نور | راونغښتے شي | او هر کله چه | ستورې | بے نوره شي | او هر کله چه | غرونه

هر کله چه نور راونغښتے شي ، او څه وخت چه ستورې بے نوره شي او هر کله چه غرونه

سُيِّرَتۡ ﴿٣﴾ وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ﴿٤﴾ وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ﴿٥﴾

روان کړے شي | او هر کله چه | د لس میاشتنئ بلاربې اوښې | هيرے کړے شي | او هر کله چه ځنګلي ځناور | راجمع کړے شي۔

روان کړے شي او لس مياشتنئ بلاربے (اوښې) هيرے کړے شي، او څه وخت چه ځنګلي ځناور راجمع کړے شي

وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ﴿٦﴾ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ ﴿٧﴾ وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ

او هر کله چه | دریابونه | د اور په شان لمبه کړے شي | او هر کله چه روحونه | (د بدنونو سره) جمع کړے شي | او کله چه ژوندۍ ښخ شوې (جينۍ)

او هر کله چه دریابونه اور شي ، او روحونه (د بدنونو سره) جوړې کړے شي ، او چه د ژوندۍ ښخو کړے شوو

سُئِلَتۡ ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنۢبٍ قُتِلَتۡ ﴿٩﴾ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ

تپوس وشي | چه په کوم ګناه | هغه وژلے شوې وه | او هر کله چه | عملنامے | پرانستلے شي | او هر کله چه | د آسمان

جينکونه تپوس وشي چه په کوم ګناه وژلے شوې وه او څه وخت چه عملنامے پرانستلے شي او څه وخت چه د آسمان

كُشِطَتۡ ﴿١١﴾ وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ ﴿١٣﴾ عَلِمَتۡ

پوستکے ورسيتلے شي | او هر کله چه | دوزخ | سور کړے شي | او هر کله چه جنت | رانزدے کړے شي | نو پوهه به شي

پوستکے وروسيتلے شي، او هر کله چه دوزخ لمبه کړے شي ، او څه وخت چه جنت رانزدے کړے شي، نو هر نفس

نَفۡسٌ مَّآ أَحۡضَرَتۡ ﴿١٤﴾ فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ﴿١٥﴾ ٱلۡجَوَارِ

هر يو کس | په هغه څه | چه دۀ حاضر کړي دي | پس زۀ قسم خورم | په بېرته ګرځېدونکو سمو ستورو | ګرځېدونکو

ته به خپل عمل معلوم شي ، نو زۀ قسم خورم په راتاوېدونکو ، ګرځېدونکو او پټېدونکو

ٱلۡكُنَّسِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ﴿١٧﴾ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُۥ

پټېدونکو ستورو | او په شپه | هر کله چه | راخوره شي | او په صبا | هر کله چه ساه واخلي | بېشکه دا

ستورو او په شپه چه راخوره شي او په سحر چه راوخېژي ، بېشکه دا (قرآن)

لَقَوۡلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ

کلام دے | د فرښتے | عزتمند دے | چه طاقت والا دے | د عرش والا سره نزدے | د لوئے مرتبے والا دے | خبره ئے منلے شي

د يو عزتمند فرښتے په ژبه (رالېږلے شوے پيغام) دے چه ډېر مضبوط دے د عرش خاوند (الله) سره د لوئے مرتبے خاوند دے خبره ئے

ثَمَّ اَمِيْنٍ ﴿٢١﴾ وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُوْنٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ ﴿٢٣﴾
د هغه ځای | امانتګار دے | او نه دے ستاسو ملګرے | دیوانه | او ده هغه لیدلے دے | د آسمان په واضحه کناره
هلته منلے شي او امانت ګر دے او ستاسو ملګرے (محمد ﷺ) لیونے نه دے او ده هغه (جبرائیل) د آسمان غاړے ته لیدلے هم دے

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿٢٥﴾
او نه دے هغه | (د) غیب (په معامله) کښے | شوم بخیل کوونکے | او نه دے دا | قول | د شیطان | رټلے شوی
او دا پیغمبر د غیبو خبرو په ښودو کښے شوم نه دے ، او دا کلام د رټلے شوی شیطان کلام نه دے

فَاَيْنَ تَذْهَبُوْنَ ﴿٢٦﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٧﴾ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ
پس چرته | تاسو روان یئ | نه دے دا (قرآن) مګر | نصیحت | د ټولو جهانونو د پاره | د هغه چا د پاره | چه غواړی | له تاسو نه
نو تاسو بل کوم اړخ ته روان یئ ، دا (کتاب) خو بس ټول مخلوق ته یو نصیحت دے ، د هغه چا د پاره چه څوک له تاسو

اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٩﴾ ع
چه په سمه لار روان شي | او نه شئ غوښتلے تاسو | مګر | دا چه وغواړی | الله | چه رب دے | د ټولو جهانونو
نه په نیغه لاره تلل غواړی او تاسو هغه څه غوښتلے شئ چه الله ئے وغواړی چه د ټولو جهانونو رب دے .

سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تِسْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة الانفطار په مکه کښے نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ١٩ آیتونه او یو رکوع ده
د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴿١﴾ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ﴿٢﴾ وَاِذَا الْبِحَارُ
هر کله چه آسمان | وچوی | او هر کله چه | ستوری | تس نس شی | او هر کله چه | سمندرونه
کله وخت چه آسمان وچوی ، او چه ستوری ودودریږی ، او دریابونه یو بل سره

فُجِّرَتْ ﴿٣﴾ وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَ
ګډ شی | او هر کله چه | قبرونه | ونړولے شی | نو پوهه به شی | هر یو نفس په هغه څه | چه وړاندے لیږلی دی | او
په بهیدو د یو بل ملګری شی او هر کله چه قبرونه ونړولے شی ، نو هر نفس ته به معلومه شی چه څه ئے کړی دی او څه ئے

اَخَّرَتْ ﴿٥﴾ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ﴿٦﴾ الَّذِيْ خَلَقَكَ
چه وروستو پریښی دی | اے | انسان ! | ته څه څیز دوکه کړے | د خپل رب کریم په باره کښے | هغه چه | ته ئے پیدا کړے
پریښی دی اے بنیاد مه ! ته د خپل کریم رب په حقله کوم څیز دوکه کړے ، هغه ذات چه ته ئے پیدا

فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ فِيْۤ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴿٨﴾ كَلَّا بَلْ
بیائے ته درست کړے | بیائے میانه حال کړے | په کوم صورت کښے چه هم | ده وغوښتل | جوړ ئے درکړو تاته | هرګز نه | بلکه
کړے نو برابر ئے کړے نو میانه حال ئے کړے ، په کوم شکل چه ئے خوښه وه هغسے ئے جوړ کړے . نه بلکه تاسو

تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ ﴿٩﴾ وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿١١﴾
تاسو دروغ ګڼړل | جزاء او سزا | او بیشکه په تاسو باندے | محافظان دی | عزتمند دے | لیکونکے
خو د قیامت نه انکار کوئ ، حال دا چه نګرانے نوښتے در باندے مقرر دی چه شریف لیکونکے دی .

يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿١٢﴾ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ﴿١٣﴾ وَ اِنَّ الْفُجَّارَ

دَ پوهیږي | په هغه څه چه تاسو کوئ | بیشکه نیکان به | په نعمت کښے وي | او | بیشکه | ګناهګاران به

تاسو چه څه کوئ په هغے ښه پوهیږي، بیشکه نیکان خلق به د نعمتونو په جنت کښے وي او بیشکه بدکاران به

لَفِيْ جَحِيْمٍ ﴿١٤﴾ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ﴿١٦﴾

په دوزخ کښے وي | دوئ به داخلیږي په دے کښے | د جزا په ورځ | او نه به وي دوئ | له دغه ځائے نه | پټیدونکي

په دوزخ کښے وي په کوم کښے چه به دوئ د قیامت په ورځ داخلیږي او دوئ به د دغے (دوزخ) نه پټیدے نه شي.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ

او تا ته څه خبر دے | چه څه ده ورځ د جزاء؟ | بیا تا ته څه خبر دے | چه څه ده ورځ د جزا؟ | هغه ورځ ده

او تا ته څه معلومه ده چه د بدلے ورځ به څنګه وي؟ او بیا تا ته څه معلومه ده چه د بدلے ورځ څنګه ده؟ هغه داسے

لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا ؕ وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿١٩﴾

چه نه به شي کولے | یو نفس د بل نفس د پاره | هیڅ هم | او حکم به | په دغه ورځ | د الله (وي)

ورځ ده چه هیڅوک به د هیچا په کار نه راځي او په دغه ورځ به حکم یوازے د الله تعالٰی چلیږي.

سُوْرَةُ الْمُطَفِّفِيْنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة مطففین په مکه کښے نازل شو او په دے کښے ۳۶ آیتونه او یو رکوع ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ﴿١﴾ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ﴿٢﴾

تباهي ده | د کم ورکوونکو د پاره | هغه خلق چه | هر کله | پیمانه کوي | له خلقو نه | نو پوره اخلي

د کم تول کوونکو د پاره بربادي ده، هغه چا د پاره چه پیمانے اخلي له خلقو نه نو پوره په پوره ئے اخلي

وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ ﴿٣﴾ اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمْ

او هر کله چه | پیمانه ورکوي دوئ | یا په تول ورکوي دوئ | نو کم ورکوي | آیا یقین نه کوي | دا خلق | چه بیشکه دوئ

او چه خلقو ته ئے پیمانه کوي یا ورته ئے تلي نو کم ورکوي. آیا دوئ دا باور نه لري چه دوئ به (د قیامت

مَّبْعُوْثُوْنَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٥﴾ يَّوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦﴾

به راپاڅولے شي | په ورځے | لوئے | په کومه ورځ چه | و به دریږي | خلق | په وړاندے د رب د ټولو جهانونو

په لویه ورځ راژوندي کیږي؟ په کومه ورځ چه به خلق د ټول مخلوق رب ته پیش کیږي.

كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ﴿٧﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ ﴿٨﴾

هرګز نه | بیشکه | عملنامے | د نافرمانو | په سجین کښے دي | او تا ته څه خبر دے | چه څه دے سجین؟

داسے دِ نه کوي بیشکه د بدکارو خلقو عملنامے په سجین کښے دي. او تا ته څه معلومه ده چه سجین څه (شے) دے؟

كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ﴿٩﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ

یو کتاب دے | لیکلے شوے | تباهي ده | په دغه ورځ | دروغ ګڼرونکو د پاره | هغه خلق چه | دروغ ګڼري

(دا) یو لیکلے شوے کتاب دے، په دغه ورځ د دروغ ګڼرونکو د پاره تباهي ده، چه څوک د قیامت ورځ دروغ

بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ﴿١٢﴾ اِذَا تُتْلٰى

ورځ | دَ جزا | او دروغ نه ګڼي | دا | مګر | هر دَ حد نه تیریدونکے | ګناهګار | هرکله چه | لوستے شي

ګڼي. او دَ دے ورځے نه انکار یوازے هغه څوک کوي چه سرکش ګناهګار وي، هرکله چه څمونږ

عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾ كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ

په دهٔ بانډې | زمونږ آیتونه | نو دے وائي | چه قصے دي | دَ وړومبنو خلقو | هرګز نه | بلکه | زنګ لګیدلے دے

آیتونه ورته واورولے شي نو وائي چه دا خو دَ پخوانو خلقو قصے دي. داسے نه ده بلکه دَ دوئ

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ

په زړونو دَ دوئ | دَ هغه څهٔ چه دوئ به کول | هرګز نه | بیشکه دوئ به | دَ خپل رب نه | په دغه ورځ

عملونو دَ دوئ په زړونو زنګ لګولے دے. نه دوئ به دَ خپل رب (دَ لیدو) نه په دغه

لَمَحْجُوْبُوْنَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِيْ

منع کړے شي | بیا بیشکه دوئ | داخلیدونکي دي | په دوزخ کښے | بیا به | وٙ ویلے شي | چه هم دا دی هغه

ورځ منع کړے شي. بیا یقیناً دوئ به دوزخ ته ځي، بیا به ورته وٙیلے شي چه دا هغه څیز

كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِيْ عِلِّيِّيْنَ ﴿١٨﴾

چه تاسو به دروغ ګڼړل | هرګز نه | بیشکه | اعمالنامے | دَ نیکانو خلقو | په علیّین کښے دي.

دے چه تاسو به دروغ ګڼړلو. نه! بیشکه چه دَ نیکانو عملونه په علیّین کښے لیک دي.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا عِلِّيُّوْنَ ﴿١٩﴾ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ﴿٢٠﴾ يَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿٢١﴾

او تا ته څهٔ خبر دے | چه څهٔ دے علیّین؟ | یو کتاب دے | لیکلے شوے | ګوري دے ته | مقربے فرښتے

او تا ته څهٔ معلومه ده چه علیین څنګه ځائے دے؟ دا یو لیکلے شوے کتاب دے چه مقربے فرښتے ورته حاضرے وي

اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِهِمْ

بیشکه نیکان خلق به | په نعمت کښے وي | په تختونو بانډې (ناست) | ګوري به | پیژنے به ته | په مخونو دَ دوئ کښے

بیشکه نیکان به دَ نعمت (په باغونو) کښے وي، په تختونو ناست سیلونه به کوي، دَ هغوئ په مخونو کښے به دَ نعمتونو

نَضْرَةَ النَّعِيْمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ ﴿٢٥﴾ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ۭ

تازګي | دَ نعمت | په دوئ به څښولے شي | خالص شراب | مُهر لګولے شوي | مُهر دَ دے به | مشک وي

تازګي ښکاري. په هغوئ به مهر لګولے شوي خالص (پاکیزه) شراب څښولے شي چه مهر به یې دَ مشکو وي

وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِيْمٍ ﴿٢٧﴾

او په دے کښے | رغبت کول پکار دي | رغبت کوونکو دَ پاره | او ګډون دَ هغے به | دَ تسنیم له اوبو نه وي.

او په دغه څیز کښے دِ رغبت کوونکي رغبت وکړي. او هغے کښے به دَ تسنیم (اوبهٔ) ګډولے شي.

عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿٢٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا كَانُوْا مِنَ الَّذِيْنَ

یو چینه ده | څښي به | له هغے نه | مقرب خلق | بیشکه | کوم چه | جرمونه کړي دي | دوئ به هغه خلقو نه چه

دا یوه چینه ده چه مقرب خلق به ترے نه څښل کوي. بیشکه څوک چه مجرمان دي هغوئ به (په دُنیا کښے) په

اٰمَنُوْا يَضْحَكُوْنَ ﴿٢٩﴾ وَاِذَا مَرُّوْا بِهِمْ يَتَغَامَزُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَاِذَا

چه ایمان ئې راوړی وو | خندا کوله | او هر کله چه | تیریدل به دوی | په مسلمانانو | نو سترګې به ئې وهلې | او هر کله چه

مؤمنانو پورې خندا ګانې کولې، او چه مسلمانان به ئې په خوا کښې تیریدل نو یو بل ته به ئې سترګې وهلې او چه خپلو

انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا

واپس به شول دوی | خپل کورونو ته | نو واپس کیدل به | خوشحاله | او هر کله چه | دوی به لیدل مسلمانان | نو وئیل به ئې

کورونو ته به واپس تلل نو هلته به ئې هم (مسلمانانو پورې) ټوقې کولې، او چه مسلمانان به ئې ولیدل نو دا به ئې

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّوْنَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ اُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ

بیشکه | هم دوی | ګمراه دی | او دوی نه وو رالیږلی شوی | په دوی باندې | نګرانان | پس نن ورځ

وئیل چه دا خلق ګمراهان دی، حال دا چه دوی د مسلمانانو په سر نګرانان مقرر شوی نه وو. نو نن (د

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿٣٥﴾

هغه خلق چه | ایمان ئې راوړی وو | په کافرانو پورې | به خندا کوی | په تختونو باندې (ناست) | ګوری به

قیامت په) ورځ به مسلمانان په کافرانو پورې خندا ګانې کوی (او) په تختونو به ناست نظاره به ئې کوی

هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾

آیا | جزا به ورکړې شی | کافرانو ته | د هغه څه | چه دوی به کول.

چه آیا کافرانو ته د خپل عمل پوره پوره بدله ورسیده که نه؟

سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سوره انشقاق په مکه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکی دے | او په دې کښې ۲۵ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿١﴾ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَاِذَا الْاَرْضُ

هر کله چه | آسمان | وچوی | او ده به منی حکم | د رب خپل | او هم دا په ده لازم دی | او هر کله چه | زمکه

څه وخت چه آسمان وشلیږی، او د خپل رب حکم ومنی او هغه هم د دې قابل دے، او هر کله چه زمکه

مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا

هواره کړې شی | او ده به غورزوی | څه چه | په دې کښې دی | او خالی به شی | او حکم به ومنی | د رب خپل

رابښکله شی، او هر څه چه پکښې دی هغه بهر ته راوغورزوی او خالی شی او د خپل رب حکم ومنی او هغه هم

وَحُقَّتْ ﴿٥﴾ يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا

او هم دا په ده لازم دی | اے انسانه! | بیشکه ته | ډیر کوشش کوې | خپل رب سره ملاقات پورې | په عمل کښې

د دې قابل ده | اے بنیادمه! ته لګیا ئې د خپل رب اړخ ته کوشش کوې او خامخا به ورسره مخامخ

فَمُلٰقِيْهِ ﴿٦﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ﴿٧﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ

پس ته به ملاقات وکړې ورسره | پس | چاله چه | ورکړې شی | عملنامه د ده | د ده په ښی لاس کښې | پس زر به | حساب وکړې شی د ده سره

کیږې، نو بیا چا ته چه عملنامه په ښی لاس کښې ورکړې شی نو هغه سره به آسان حساب

ع ٤ ٨

حِسَابًا يَّسِيْرًا ۙ﴿٨﴾ وَّيَنْقَلِبُ اِلٰۤى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ﴿٩﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ

حساب | آسان | او بیرته به وګرځي | خپل کورونو طرف ته | خوشحاله خوشحاله | او هغه چا ته چه | ورکړے شي

وُشي ، او خپلو خپلوانو ته به خوشحاله خوشحاله ورشي . او چا ته چه عمل نامه دَشا

كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۙ﴿١١﴾ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ؕ﴿١٢﴾

عملنامه دَده | دَده شا دَ وروستو نه | پس زر به دوی وُبلي | هلاکت | او داخل به شي | دوزخ ته

دَ غاړے نه ورکړے شي ، نو هغه به دَ هلاکت دُعاګانے وُغواړي او هغه به دوزخ ته ورننوځي .

اِنَّهٗ كَانَ فِيْۤ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ﴿١٣﴾ اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ۛۚ﴿١٤﴾ بَلٰۤى ۛۚ

بیشکه دے وو | په خپل کورونو کښے | خوشحاله | بیشکه دَ | ګمان کړے وُو | چه هیڅ کله به دَ نهٔ ورګرځي | ولے نه

دے به په (دنیا کښے) خپلو خپلوانو کښے ډیر خوشحاله اوسیدو، دَده دا ګمان وو چه (الله ته) به نهٔ ورګرځم ولے نه!

اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ بَصِيْرًا ؕ﴿١٥﴾ فَلَاۤ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ۙ﴿١٦﴾ وَالَّيْلِ وَمَا

بیشکه دَده رب | دهٔ ته لیدل | پس زهٔ قسم خورم | دَ ماښام دَ سرخئ | او دَ شپے | او دَ هغه څهٔ

بیشکه الله دَده کارونه لیدل کتل. نو زما دِ په شفق باندې قسم وي . او په شپه او په هغه څیزونو

وَسَقَ ۙ﴿١٧﴾ وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ۙ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ؕ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ

چه دَ دے راغونډ کړي وي | او دَ سپوږمئ | هر کله چه پوره شي | تاسو به خامخا خیژئ | درجه | په درجه | پس څهٔ شوي دي په دوئ

چه شپے راغونډ کړي وي او په سپوږمئ څهٔ وخت چه پوره شي چه تاسو له یوړئ په یوړئ ختل دي، بیا په دوئ څهٔ شوي دي

لَا يُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿٢٠﴾ وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ ؕ﴿٢١﴾ بَلِ الَّذِيْنَ

چه دوئ ایمان نهٔ راوړي | او هر کله چه | وُلوستلے شي | په دوئ باندې | قرآن | نو دوئ سجده نهٔ کوي | بلکه | کوم خلق چه

چه دوئ ایمان نهٔ راوړي او څهٔ وخت چه دوئ ته قرآن وُلوستلے شي نو دوئ سجده نهٔ کوي ، بلکه کافران

كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ ۖ﴿٢٢﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ ۖ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ

منکر دي | هغوئ خو دروغ ګڼړي | او الله | ښهٔ پوهیږي | په هغه څهٔ چه دوئ پټوي | پس زیرے ورکړه دوئ ته | دَ عذاب

(داهر څهٔ) دروغ ګڼړي او دَ دوئ دَ زړونو حال الله ته ښهٔ معلوم دے ، نو دوئ ته دَ دردناک عذاب

اَلِيْمٍ ۙ﴿٢٤﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۠﴿٢٥﴾

دردناک | مګر هغه خلق چه | ایمان راوړے | او عمل وکړو | نیک | دوئ دَ پاره | اجر دے | نهٔ ختمیدونکے

زیرے ورکړه، مګر البته څوک چه مؤمنان دي او نیک کارونه کوي هغوئ له نهٔ ختمیدونکے اجر مقرر دے

سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّ رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة بروج په مکه کښے نازل شوے او په دے کښے ٢٢ آیتونه او یوه رکوع ده

(شروع) دَ الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے

دَ الله په نامه شروع چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۙ﴿١﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۙ﴿٢﴾ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ؕ﴿٣﴾

قسم دے په آسمان | چه خاوند دَ برجونو دے | او په هغه ورځ | چه وعده ئے کړے شي | او په ګواه | او دَ چا خلاف چه ګواهي ورکړے شي

قسم دے په آسمان چه دَ برجونو خاوند دے او په هغه ورځ (دَ قیامت) چه وعده ئے شوے ده او قسم دے په ګواه او دَ چا خلاف چه ګواهي ورکړے شي

قُتِلَ اَصۡحٰبُ الۡاُخۡدُوۡدِ ﴿۴﴾ النَّارِ ذَاتِ الۡوَقُوۡدِ ﴿۵﴾ اِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا

هلاک شول | خاوندان د خندقونو | چه بڅېدونکي اور وو | ډېر خشاک والا | هر کله چه | دوی په څنګ (غاړه)

چه د خندق چوړونکي (کافران پخپله) ووژلے شول د اور خاوندان چه ډېر خشاک بلېدونکے پرې وو. څه وخت چه دوی د اور په

قُعُوۡدٌ ﴿۶﴾ وَّهُمۡ عَلٰى مَا يَفۡعَلُوۡنَ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ شُهُوۡدٌ ﴿۷﴾ وَمَا نَقَمُوۡا

ناست وُو | او دوی | په هغه څه | چه کول ئے | د مؤمنانو سره | پخپله ګواه وو | او دوی انتقام وانه خستو

غاړه ناست وو او څه چه دوی د مؤمنانو سره کول هغه ئے په خپلو سترګو لیدل کتل او هغوی له دوی نه صرف

مِنۡهُمۡ اِلَّاۤ اَنۡ يُّؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَمِيۡدِ ﴿۸﴾ الَّذِىۡ لَهٗ مُلۡكُ

له دوی نه | مګر د دے چه | دوی ایمان راوړے وو | په الله باندې | چه ډېر غالب | د ستاینے لائق دے | هغه چه د ده | حکومت دے

د دے خبرے بدله اخستله چه دوی په الله ایمان راوړے وو چه غالب او تعریف خاوند دے، هغه ذات د چا حکومت

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ﴿۹﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ

په آسمانونو | او په زمکه کښے | او الله | په هر څیز باندې | خبردار دے | بیشکه | کوم خلقو چه

چه په آسمانونو او زمکه دے او الله تعالیٰ په هر څیز باندې خبردار دے، کوم خلقو چه مؤمنانو

فَتَنُوا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوۡبُوۡا فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ

عذاب ورکړو | مومنانو سره | او مؤمناتو ښځو ته | بیا | توبه ئے ونه ویستله | پس دوی له | عذاب | د دوزخ دے

سره او مؤمناتو ښځو له عذاب ورکړو (او) بیا ئے توبه ونه ویستله نو هغوی له د دوزخ عذاب مقرر دے

وَلَهُمۡ عَذَابُ الۡحَرِيۡقِ ﴿۱۰﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او دوی د پاره | عذاب دے | سوزونکے | بیشکه | هغه خلق چه | ایمان ئے راوړید | او عمل ئے وکړو | نیک

او هغوی له سوزونکے عذاب تیار دے، بیشکه چا چه ایمان راوړے دے او هغوی نیک عملونه وکړل

لَهُمۡ جَنّٰتٌ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡكَبِيۡرُ ﴿۱۱﴾

دوی د پاره | باغونه دی | بهیږی به | لاندې د هغے نه | نهرونه | هم دا ده | کامیابي | ډیره لویه

هغوی د پاره باغونه دی چه د هغے لاندې به ویالے بهیږی، دا ډیره لویه کامیابي ده.

اِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِيۡدٌ ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيۡدُ ﴿۱۳﴾ وَهُوَ

بیشکه | نیول | ستا د رب | ډیر سخت دی | بیشکه هم دے | په اول ځل پیدا کوی | او واپس کوی | او هم دے دے

بیشکه ستا د رب نیول ډیر سخت دی، الله په وړومبی ځل هم پیدا کوی او دوباره به ئے هم پیدا کوی او هغه

الۡغَفُوۡرُ الۡوَدُوۡدُ ﴿۱۴﴾ ذُو الۡعَرۡشِ الۡمَجِيۡدُ ﴿۱۵﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيۡدُ ﴿۱۶﴾ هَلۡ

بخښونکے | محبت کوونکے | مالک د عرش دے | لوئے شان والا دے | کوونکے دے د هغه څه | چه ئے ئے غواړی | آیا

بخښونکے مینه کوونکے دے، د عرش خاوند دے لوئے دے چه څه غواړی هغه کوی، آیا تا د

اَتٰٮكَ حَدِيۡثُ الۡجُنُوۡدِ ﴿۱۷﴾ فِرۡعَوۡنَ وَثَمُوۡدَ ﴿۱۸﴾ بَلِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

راغلے دے تا ته | خبر | د لښکرونو | د فرعون | او د ثمود | بلکه | کوم خلقو چه | کفر وکړو

لښکرو قصے اوریدلی دی؟ د فرعون او د (قوم د) ثمود (د لښکرو؟) بلکه کافران په انکار کښے

فِىْ تَكْذِيْبٍ ﴿١٩﴾ وَّاللّٰهُ مِنْ وَّرَآىِٕهِمْ مُّحِيْطٌ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ

په دروغ گڼلو کښې دی | او الله | چارچاپیره د دوئی نه | احاطه کوونکے دے | بلکه | دا | قرآن

(غافل) پراته دی او الله تعالیٰ هم ابخبر نه دوئی راګیرکړی دی په اصل کښې دا قرآن

مَّجِيْدٌ ﴿٢١﴾ فِىْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿٢٢﴾

لوئے قدر والا دے | (لیکلے شوے) په لوح | محفوظ کښے.

د لوئے شان والا دے چه په لوح محفوظ کښې سنبال دے

ع ٢٢ / ١٠

سُوْرَةُ الطَّارِقِ مَكِّيَّةٌ وَّهِىَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سَبْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة طارق په مکه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ۱۷ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ﴿٢﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾

قسم دے په آسمان | او د شپے په راتلونکی | او تا ته څه معلومه ده | چه څه دے د شپے راتلونکے | هغه ستورے دے | پرقیدونکے

قسم دے په آسمان او په هغه څیز چه د شپے ښکاره کیږی او تا ته څه معلومه ده چه د شپے راتلونکے څیز څه دے؟ هغه یو ځلیدونکے ستورے دے

اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿٤﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ

داسے یو نفس نشته | مګر | په هغه باندې | یو محافظ (مقرر) دے | پس و دې ګوری | انسان | چه هغه له څه نه

داسے یو نفس نشته چه په هغه یو نه یو محافظ مقرر نه دے. نو بنیادم دې ګوری چه هغه له څه نه پیدا

خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾ يَّخْرُجُ مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ

پیدا کړے شوے دے | پیدا کړے شوے دے | له اوبو | توپ وهونکو نه | چه راوځی | د ملا

کړے شوے دے؟ هغه د یو توپ وهونکو اوبو نه پیدا کړے شوے دے، چه د ملا او د سینے د مینځ نه

وَالتَّرَآىِٕبِ ﴿٧﴾ اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ تُبْلَى

او د سینے د هډوکو د مینځ نه | بیشکه دے | په بیا پیدا کولو د ده | قدرت لری | په کومه ورځ چه | ښکاره کړے شی

راوځی، بیشکه الله تعالیٰ د ده په سر دوباره پیدا کولو پوره پوره قدرت لری، په کومه ورځ چه پټ

السَّرَآىِٕرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ﴿١٠﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾

رازونه | نو نه به وی ده د پاره | څه طاقت | او نه څوک مدد ګار | او قسم دے په آسمان | چه خاوند د باران دے

رازونه ښکاره کړے شی نو نه به د ده خپل طاقت وی او نه به څوک مدد ګار وی، قسم دے په آسمان چه بارانونه وروی

وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَّمَا هُوَ

او زمکه | چاؤد د و نکے | بیشکه دا (قرآن) | کلام دے | فیصله کوونکے | او نه ده دا

او په زمکه چه (شینکی ته) چوی. بیشکه چه دا قرآن (د حق او د باطل ترمینځه) فیصله کوونکے کلام دے او دا څه فضول

بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ

فضول خبره | بیشکه دوئی | تدبیر کوی | یو تدبیر | او زه (هم) تدبیر کوم | یو تدبیر | پس مهلت ورکړه

خبره نه ده، هغه خلق په خپل خپل تدبیر کښې لګیا دی او زه (الله) هم تدبیر کوم. پس ته کافرانو ته

الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾

كافرانو ته | مهلت ورکړه دوئ ته | لږه موده

(لږ تور) مهلت ورکړه او ځه موده دوئ پرېږده.

سُوْرَةُ الْاَعْلٰى مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تِسْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة اعلىٰ په مکه کښې نازل شوې | (شروع) د الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | په دے کښې ۱۹ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم خاوند دے

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِيْ خَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٢﴾ وَالَّذِيْ قَدَّرَ

پاک بیانوه | د نامے | د رب خپل | چه د ټولو نه برتر دے | هغه چه | پیدا ئے کړو | نو درست ئے کړو | او هغه چه | اندازه ئے مقرر کړه

د خپل رب د نوم پاکي بیان کړه چه اعلىٰ دے، چه مخلوق ئے پیدا کړو نو برابر ئے پیدا کړه او هغه چا چه د هر څیز

فَهَدٰى ﴿٣﴾ وَالَّذِيْٓ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى ﴿٤﴾ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰى ﴿٥﴾

بیا ئے ورته لاره وښوده | او هغه ذات چه | راوے ویستله | ګیاه | بیا ئے کړله هغه | اُوچه چوره | تور رنګ

اندازه مقرر کړه بیا ئے لار ورښوده او هغه ذات چه ګیاه ئے راوزرغونه کړه بیا ئے هغه تور بُوس ــــ کړل۔

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰٓى ﴿٦﴾ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ

مونږ به زده کړو لولو تا ته | نو بیا به له تا نه نه هیرېږي | مګر څه چه | وغواړي الله | بیشکه هغه پوهېږي | په ښکاره

مونږ به تا ته (قرآن) لولو نو له تا نه به نه هیرېږي مګر څه وخت چه الله وغواړي، هغه په ښکاره هم پوهه دے

وَمَا يَخْفٰى ؕ ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ﴿٨﴾ فَذَكِّرْ اِنْ نَّفَعَتِ

او په پټه خبره | او مونږ به آسان کړو په تا | (تلل) په آسانه طریقه | پس ته نصیحت کوه | که چرے فائده ورکوي

او په هغه هم چه پټ دي، او تا ته به د آسان (دین) لاره آسانوو. نو ته نصیحت کوه که نصیحت څه فائده

الذِّكْرٰى ﴿٩﴾ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى ﴿١٠﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَى ﴿١١﴾

نصیحت | زر به نصیحت حاصل کړي | څوک چه وېرېږي | او څنګ به کوي له دے نه | ډېر بد نصیبه

رسوي، څوک چه وېرېږي هغوئ به نصیحت قبلوي او څوک چه بدنصیبه وي هغوئ به ترې نه څنګ کوي

الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿١٣﴾ قَدْ

هغه څوک چه | داخلېږي به | اور ته | ډېر لوئے | بیا به | هغه نه مري | په هغې کښې | او نه به ژوندے وي | بیشکه

هغه کس چه لوئے اور ته به ننوزي، بیا به په کښې نه مري او نه به ژوندے وي، هغه څوک

اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴿١٥﴾ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ

کامیاب شو | څوک چه | پاک شو | او یاد ئے کړه | نامه | د خپل رب | بیا ئے مونځ وکړو | بلکه | تاسو غوره کوئ

کامیاب شو چا چه ځان پاک کړو او د خپل رب نوم ئے یاد وو، او مونځ ئے کولو، بلکه تاسو د دنیا ژوند

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٧﴾ اِنَّ هٰذَا

ژوند | د دنیا | او آخرت | ډېر ښه | او ډېر پائیدار دے | بیشکه | هم دا دی

غوره کوئ، حال دا چه آخرت ډېر بهتر او ډېر پائیدار دے، بیشکه دا مضمون

لَفِى الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿١٨﴾ صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى ﴿١٩﴾ ع ١٩ ١٢

په صحيفو پخوانو كښې | (يعنې) په صحيفو (كښې) | دَ ابراهيم | او دَ موسىٰ

په پخوانو صحيفو كښې هم بيان شوے دے (يعنې) دَ ابراهيم او دَ موسىٰ په صحيفو كښې .

سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِىَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سِتٌّ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورۀ غاشيه په مكه كښې نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان ډير زيات رحم كوونكے دے | او په دے كښې ٢٦ آيتونه او يو ركوع ده

دَ الله په نامه شروع كوم چه ډير مهربان دَ ډير زيات رحم خاوند دے

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ

آيا تا ته را رسيدلې ده | خبر | دَ خوريدونكې (قيامت) | څه مخونه به | په دغه ورځ | ذليله وي | زېرلي

(اے رسوله!) آيا تا ته دَ چاپيره خوريدونكي واقعے (قيامت) څه خبر راغلے دے؟ ډير مخونه به په دغه ورځ ذليله زېرلي

نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ﴿٥﴾ لَيْسَ لَهُمْ

ستړي وي | داخل به شي | اور | بل شوي ته | څښولے به شي په دوى | له چينے | يشيدونكے نه | نه به وي دوى له

(او) ستړي وي (داخليږي به) په بل شوي اور كښې داخليږي، دَ يشيدونكے چينے نه به پرے اوبۀ څښولے شي، بغير دَ اغزو

طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِىْ مِنْ جُوْعٍ ﴿٧﴾ وُجُوْهٌ

هيڅ طعام | مگر | دَ اغزو دَ بوټي نه | (چه) نه به څربوي | او نه به لرے كوي | لوږه | څه مخونه به

دَ بوټي نه به ورله بل خوراك نه وي ، چه نه به پرے څربيږي او نه به پرے لوږه بنديږي، ډير مخونه

يَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِىْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا تَسْمَعُ

په دغه ورځ | تازه وي | په خپل كوشش باندې به | رضامند وي | په جنت | اوچت كښې به وي | نه به آوري

به په دغه ورځ تازه وي ، په خپل عمل به خوشحاله وي، په اوچتو باغونو كښې به ناست وي، چه هيڅ

فِيْهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ﴿١٣﴾ وقف لازم

په هغے كښې | فضول خبرے | په هغے كښې به | يوه چينه | بهيدونكې | په هغے كښې به | تختونه وي | اوچت اوچت

فضول خبره به نه آوري ، په هغے كښې به چينے بهيږي ، په هغے كښې اوچت اوچت تختونه دي .

وَّاَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ﴿١٤﴾ وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿١٥﴾ وَّزَرَابِىُّ مَبْثُوْثَةٌ ﴿١٦﴾

او گلاسونه | ايښودے شوي | او بالختونه | په قطارونو كښې ايښودے شوي | او قالينونه | غوړيدلي

او په سمون ايښې گلاسونه دي او په قطارونو كښې ايښې بالختونه دي او هرخوا ته غوړيدلي قالينونه دي

اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وقفة وَاِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ

پس آيا نه گوري دوى | طرف دَ اوښ ته | چه څنگه | پيدا كړے شو؟ | او طرف دَ آسمان ته | چه څنگه

آيا دوى اوښ ته نه گوري چه څنگه پيدا كړے شو ؟ او آسمان ته چه څنگه اوچت كړے

رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وقفة وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وقفة وَاِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ

اوچت كړے شو | او طرف دَ غرونو ته | چه څنگه | ودرولے شول | او طرف دَ زمكے ته | چه څنگه

شو ؟ او غرونو ته چه څنگه ټينگ ودرولے شول ؟ او زمكے ته چه څنگه وغوړولے

سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾

وُغوړولے شوه | پس ته نصیحت کوه | بیشکه ته | نصیحت کوونکے یې | نه یې ته | په دوی باندې | نګران

شوه؟ نو ته نصیحت کوه ځکه چه ته نصیحت کوونکے یې ته په دوی نګران مقرر شوے نه یې

إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ

مګر | څوک چه | مخ واړوی | او انکار وکړی | بیا به عذاب ورکړی ده ته | الله | عذاب | ډیر لوئے | بیشکه

خو څوک چه مخ وګرځوی او انکار وکړی، نو الله تعالیٰ به ورله ډیر لوئے عذاب ورکړی. بیشکه

إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

زمونږ طرف ته | واپسی ده د دوی | بیا | بیشکه | په مونږ باندې دے | حساب د دوی

مونږ ته د دوی واپسی ده، نو بیا به مونږ ورسره حساب کوو.

ع ١٢

سُورَةُ الْفَجْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سورهٔ فجر په مکه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې ۳۰ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

وَٱلْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ

قسم دے په سحر | او په لسو شپو | او په جفت | او په طاق | او په شپه | هرکله چه په تیریدو شی | آیا

قسم دے په سحر او په لسو شپو. او قسم دے په جفت او طاق باندې او په شپه چه په تیریدو شی، بیشکه

فِى ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِى حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ

په دے کښې | یو درون قسم دے | د پاره د خاوند | د عقل | آیا نه دی کتلی تا چه څنګه | سلوک وکړو | ستا رب

عقلمند و د پاره دا ډیر لوئے قسم دے. آیا تا نه دی لیدلی چه ستا خدائے د عاد د قوم

بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ ﴿٧﴾ ٱلَّتِى لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴿٨﴾

د عاد سره | (یعنی) ارم قوم سره | چه خاوندان د لوړ قد وو | هغه چه | نه دی پیدا شوی | په شان د هغوی | په ښارونو کښې

یعنی د ارم د قوم سره څه وکړل؟ چه د ستنو غونډې لوړ قد وو چه د هغوی په شان (مضبوط) په هیڅ وطن کښې نه وو

وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُوا۟ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِى ٱلْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾

او (د) ثمود (سره) | کوم چه | تراشلی وو | ګټان | په وادی کښې | او فرعون | خاوند د میخونو (سره)

او د ثمود د قوم سره (څه وکړل؟) چه په وادی القری کښې ئې (کورونو له) ګټان تراشل او فرعون د میخونو والا سره (ئې څه وکړل)

ٱلَّذِينَ طَغَوْا۟ فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا۟ فِيهَا ٱلْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ

کوم چه | سرکشی وکړه | په ښارونو کښې | نو دوی ډیر وکړو | په هغې کښې | فساد | نو وُوهله

دے ټولو په ملک کښې سرکشی کړے وه. نو ډیر فساد ونه ئې پکښې جوړ کړی وو. نو ستا رب ورله

عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا ٱلْإِنسَٰنُ

په دوی باندې | ستا رب | کوړه | د عذاب | بیشکه | ستا رب | په تاک کښې دے | لیکن انسان (دا دے) چه

د عذاب یوه کوړه راخلاصه کړه. بیشکه ستا رب (د نافرمانو) په تاک کښې دے. د انسان خو

إِذَا مَا ابْتَلٰهُ رَبُّهٗ فَأَكْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ ۙ فَيَقُولُ رَبِّيٓ

هر کله چه | وُ آزمائی دے | رب دَ دهٔ | بیا عزت ورکوی دهٔ ته | او نعمت ورکوی دهٔ ته | نو دے وائی | زما رب

دا حال دے چه کله پرے الله ازمیښت کوی نو عزت او نعمت ورکوی ، نو دے وائی چه ماله الله عزت

أَكْرَمَنِ ﴿۱۵﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا ابْتَلٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ ۙ فَيَقُولُ رَبِّيٓ

ماله عزت راکړو | او هر کله چه | وُ آزمائی دے | پس تنگ کړی | په دهٔ باندې | رزق دَ دهٔ | نو دے وائی | چه زما رب

راکړو ، او کله چه پرے داسے ازمیښت وکړی چه روزی ورله لنډه تنګه کړی ، نو وائی چه زما رب زهٔ

أَهَانَنِ ﴿۱۶﴾ كَلَّا بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿۱۷﴾ وَلَا تَحٰٓضُّونَ عَلٰى طَعَامِ

زهٔ ذلیل کړم | هرگز نه | بلکه | هم تاسو عزت نهٔ کوئ | دَ یتیم | او نهٔ تاسو ترغیب ورکوئ یو بل ته | دَ طعام ورکولو

ذلیله کړم ، خبره داسے نهٔ ده بلکه تاسو دَ یتیم پالنه نهٔ کوئ ، او مسکین ته په خوراک ورکولو یو بل نهٔ املاوئ

الْمِسْكِينِ ﴿۱۸﴾ وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿۱۹﴾ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا

مسکین ته | او خورئ تاسو | مال دَ وراثت | په خوراک ټول سره | او محبت کوئ | دَ مال سره | محبت

کوئ ، او دَ میراث مال (حق نا حق) ټول خورئ او (دَ دنیا) مال مو ډیر زیات

جَمًّا ﴿۲۰﴾ كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿۲۱﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ

ډیر زیات | هر گز نه | هر کله چه | ریزه ریزه کړے شی | زمکه | په ریزه ریزه کولو سره | او رابه شی | ستا رب | او فرښتے

خوښ وی . په دے نهٔ کیږی هر کله چه زمکه ریزه ریزه کړے شی ، او ستا رب راشی او فرښتے قطار

صَفًّا صَفًّا ﴿۲۲﴾ وَجِايْٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۙ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ

په قطار قطار | او رابه وستلے شی | په دغه ورځ | دوزخ | په دغه ورځ به | نصیحت حاصل کړی | انسان

قطار وُدریږی ، او په هغه ورځ به دوزخ راوړے شی ، نو په دغه ورځ به بنیادم بنهٔ پوهه شی

وَأَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ﴿۲۳﴾ يَقُولُ يٰلَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿۲۴﴾

او څهٔ (فائده) به وی | دهٔ ته | دَ نصیحت اخستلو | دے به وائی | اے کاش ! | چه لیږلے وے ما وړاندې | دَ پاره (دَ همیشه) ژوند زما

خو دَ پوهیدو موقع به ترے نهٔ تیره وی ، وائی به چه اے کاش ! دے ژوندون له مے وړاندې څهٔ رالیږلی وے

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗٓ أَحَدٌ ﴿۲۵﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهٗٓ أَحَدٌ ﴿۲۶﴾

پس په دغه ورځ | عذاب به ورنهٔ کړی | په شان دَ عذاب دَ دهٔ | هیڅ یو کس | او وُبه نهٔ تړی | په شان دَ تړلو دَ دهٔ | هیڅ یو کس

نو په دغه ورځ به هیڅوک دَ خدائے په شان عذاب ورنهٔ کړی او نهٔ به څوک دَ خدائے غوندې مضبوط تړل کوے

يٰٓأَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ ارْجِعِيٓ إِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً

اے | نفسه | اطمینان والا ! | واپس وګرځه | طرف دَ رب خپل ته | ته (دَ دهٔ نه) راضی

شی (الله به نیکانو ته وائی) اے مطمئن نفسه ! ته خپل رب ته واپس وګرځه داسے چه ته دَ هغهٔ نه راضی یئے او

مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ فَادْخُلِي فِي عِبٰدِي ﴿۲۹﴾ وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴿۳۰﴾

دے (له تانه) راضی | پس داخل شه ته | زما په بندګانو کښے | او داخل شه | زما په جنت کښے

هغه له تانه راضی ، بیا زما په نیکانو بندګانو کښے شامل شه او زما په جنت کښے داخل شه -

ع ۱ ۳۰ ۱۲

سُوْرَةُ الْبَلَدِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | عِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة بلد په مکه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې ۲۰ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ① وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ② وَوَالِدٍ

زهٔ قسم خورم | په دے | ښار | او ته به | داخل شے | په دے | ښار کښې | او قسم دے په پلار

زهٔ قسم خورم په دے ښار (مکه) باندې - او ته په دے ښار کښې (فاتحانه) داخلیدونکے یې . او قسم دے پلار (یعنی

وَّمَا وَلَدَ ③ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِیْ كَبَدٍ ④ اَیَحْسَبُ اَنْ لَّنْ یَّقْدِرَ

او د دهٔ په اولاد | چه بیشکه | مونږ پیدا کړے دے | انسان | په محنت کښې | آیا دے خیال کوی | چه هرګز به قابو نهٔ مومی

آدمؑ) او د دهٔ د اولاد؛ چه مونږ انسان په سختئ کښې پیدا کړے دے ، آیا انسان دا خیال کوی چه د هیچا وس به په دهٔ

عَلَیْهِ اَحَدٌ ⑤ یَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ⑥ اَیَحْسَبُ اَنْ لَّمْ یَرَهٗۤ

په دهٔ باندې | هیڅوک | دے وائی | چه ما برباد کړو | مال | ډیر | آیا دے خیال کوی | چه نهٔ دے کتلے دے

نهٔ رسی - دے بڅیله وائی چه ما (د اسلام په مقابله کښې) ډیر مالونه برباد کړل، آیا دے خیال کوی چه دے هیچا نهٔ

اَحَدٌ ⑦ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَیْنَیْنِ ⑧ وَلِسَانًا وَّشَفَتَیْنِ ⑨ وَهَدَیْنٰهُ

هیچا | آیا نهٔ دی جوړې کړې مونږ | دهٔ د پاره | دوه سترګے | او ژبه | او دوه شونډے | او مونږ وښودلے دهٔ ته

دے لیدلے؟ آیا مونږ دهٔ له دوه سترګے، یوه ژبه او دوه شونډے نهٔ دی ورکړی، او (د خیر او شر) دوه لارے

النَّجْدَیْنِ ⑩ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ⑪ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ⑫ فَكُّ

دواړه لارے | پس دے داخل نهٔ شو | سخت ګذرګاه ته | او تا ته څهٔ معلومه ده | چه څهٔ دے دا سخت ګذرګاه | خلاصول دي

مونږ ورته ښودلی دی ، بیا هغه (د دین) ګذرګاه ته داخل نهٔ شو او تا ته څهٔ خبر دے چه هغه ګذرګاه څهٔ شے دے؟ (دا ده هغه) د چا

رَقَبَةٍ ⑬ اَوْ اِطْعٰمٌ فِیْ یَوْمٍ ذِیْ مَسْغَبَةٍ ⑭ یَّتِیْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ⑮ اَوْ مِسْكِیْنًا

د څټ | یا طعام ورکول دي | په ورځ کښې | د لوږې | (چا) یتیم | رشته دار ته | یا (چا) مسکین

څټ (د غلامئ) خلاصول دي، یا د لوږې په ورځ کښې خوراک ورکول دی ، یتیمانو ته چه رشته دار هم وی ، یا په خاورو کښې

ذَا مَتْرَبَةٍ ⑯ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ

په خاورو کښې ناست ته | بیا | هغه وی | له هغه خلقو نه | چه ایمان ئے راوړے وی | او دوی یو بل ته وصیت کړے وی | د صبر

ناست مسکین ته ، بیا هغه له مؤمنانو نه هم وی ، او هغوئ یو بل ته د صبر او د رحم

وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ⑰ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْمَیْمَنَةِ ⑱ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا

او وصیت ئے کړے وی | د رحم کولو | هم دا خلق دی | د ښي لاس خاوندان | او کوم خلق چه | انکار وکړو

کولو نصیحت کوی ، دا خلق به ډیر خوش نصیبه وی ، او هغه خلق کوم چه زمونږ

بِاٰیٰتِنَا هُمْ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ⑲ عَلَیْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ⑳

زمونږ د آیتونو | هم دوئ دی | خاوندان د ګس لاس | په دوئ باندې به | اور وی | بند کړے شوے

له آیتونو نه انکار وکړو، هغوئ د ګسے غاړے (خراب) خلق دی، هغوئ ته به اور له هر طرف نه چاپیره وی۔

وقف لازم

ع ١٥

سُوْرَةُ الشَّمْسِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة شمس په مکه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې ۱۵ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ۞١ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ۞٢ وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰىهَا ۞٣

قسم دے په نور | او د دے په رڼړا | او په سپوږمئ | هرکله چه راشي ورپسې تلونکے | او په ورځ | هرکله چه | ښکاره ئے کړي نور

قسم دے په نور او د هغې په رڼړا او په سپوږمۍ چه ورپسے راځيږي او په ورځ چه روښانه شي،

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ۞٤ وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰىهَا ۞٥ وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ۞٦

او په شپه | هرکله چه پټ کړي دا | او په آسمان | او کوم ذات چه دے جوړ کړو | او په زمکه | او کوم ذات چه دا وغوړوله

او په شپه چه راخوره شي، او په آسمان او په هغه (الله) چه جوړ کړے ئے دے او په زمکه او په هغه ذات چه جوړه کړے ئے ده

وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۞٧ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۞٨ قَدْ اَفْلَحَ

او په نفس | او په هغه چا | چه دا ئے درست کړل | پس ئے ورته وښودل | د دهٔ نافرماني | او د دهٔ پرهیزګاري | بیشکه کامیاب شو

او په نفس او په هغه الله چه برابر ئے جوړ کړو دے۔ نو بد او نیک ئے ورته ښودلي دي، هغه تن کامیاب شو

مَنْ زَكّٰىهَا ۞٩ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۞١٠ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ

هغه څوک | چه ئے پاک کړو | او بیشکه برباد شو | هغه څوک | چه دے ئے ناپاک کړو | دروغ وګڼړلو | قوم د ثمود

چا چه خپل نفس پاک کړو . او هغه تن برباد شو چا چه خپل نفس خراب کړو، (قوم د) ثمود د خپلے سرکشئ

بِطَغْوٰىهَآ ۞١١ اِذِ انْۢبَعَثَ اَشْقٰىهَا ۞١٢ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ

په خپله سرکشئ | هرکله چه | راپاڅیدو | د دوی غټ بدبخت | نو ووئیل | دوی ته | د الله رسول | (مرییږئ) اوښه د الله

په وجه (صالح) دروغژن وګڼړلو، هرکله چه له دوی نه یو بدبخته راپاڅیدو. نو رسول د خدائے ورته ووئیل چه خبردار د الله اوښه ده

وَسُقْيٰهَا ۞١٣ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ۙ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ

او اوبه څښل د دے | نو دوی دروغ وګڼړلو هغه | پس دوی ووژله هغه | نو عذاب راوستلو | په دوی باندې

او د دے د څښلو وار مقرر دے خو دوی پیغمبر دروغژن وګڼړلو او اوښه ئے مړه کړه، نو الله تعالیٰ پرے د ګناه

رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ۞١٤ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ۞١٥ ع ١٥ ١٦

رب د دوی | په وجه د دوی د ګناهونو | بیا ئے برابر کړل دوی | او الله نهٔ ویرېږي | د دے د انجام نه

په وجه عذاب راوستلو ، نو ټول ئے برابر کړل او الله تعالیٰ د هغوی د بد انجام هیڅ پروا ونه کړه

سُوْرَةُ الَّيْلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِحْدٰى وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة لیل په مکه کښې نازل شوه | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دې کښې ۲۱ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ۞١ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ۞٢ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ

او قسم دے په شپه | هرکله چه دا راخوره شي | او په ورځ | هرکله چه روښانه شي | او په هغه ذات | چه پیدا ئے کړل | نر

قسم دے په شپه چه راخوره شي ، او (قسم دے) په ورځ چه روښانه شي، او په هغه خدائے چه نر او ماده ئے پیدا

وَالْاُنْثٰٓی ﴿۳﴾ اِنَّ سَعْیَکُمْ لَشَتّٰی ﴿۴﴾ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰی وَاتَّقٰی ﴿۵﴾

او مادہ | چہ بیشکہ کوشش ستاسو | مختلف دے | پس | چا چہ | (مال) ورکړو | او پرهیزګاري ئے وکړه

کړی دی۔ چہ بیشکہ ستاسو کوشش نہ مختلف دی، نو چا چہ (د مال حقونه) ورکړل او پرهیزګار شو

وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰی ﴿۶﴾ فَسَنُیَسِّرُہٗ لِلْیُسْرٰی ﴿۷﴾ وَاَمَّا

او تصدیق ئے وکړو | د ښے خبرے | نو ډیر زر به مونږ آسان کړو دهٔ د پاره (تلل) | په آسانه لاره باندې | او هغه

او د ښائسته (دین) تصدیق ئے وکړو، نو مونږ به ورته د آسانئ لاره تیاره کړو، او چا چہ

مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰی ﴿۸﴾ وَکَذَّبَ بِالْحُسْنٰی ﴿۹﴾ فَسَنُیَسِّرُہٗ

څوک چہ | شومتیا ئے وکړه | او بے پروا شو | او دروغ ئے وګڼل | نیکہ خبره | نو ډیر زر به مونږ روان کړو دے

شومتیا وکړه او بے پروا شو او د ښائسته (دین) نہ ئے انکار وکړو، نو مونږ به ورته د سختئ

لِلْعُسْرٰی ﴿۱۰﴾ وَمَا یُغْنِیْ عَنْہُ مَالُہٗٓ اِذَا تَرَدّٰی ﴿۱۱﴾ اِنَّ عَلَیْنَا

د سختئ طرف ته | او په کار به رانهٔ شی دهٔ ته | مال د دهٔ | هر کله چہ دے غورځیږی (کندی ته) | بیشکہ | زمونږ په ذمه دی

لار هڅکے کړو او د دهٔ مال به دهٔ هیچرے په کار رانهٔ شی هر کله چہ دے مړ شی۔ بیشکہ هدایت کول زمونږ

لَلْهُدٰی ﴿۱۲﴾ وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَۃَ وَالْاُوْلٰی ﴿۱۳﴾ فَاَنْذَرْتُکُمْ نَارًا

لاره ښودل | او بیشکہ | مونږ د پاره دی | آخرت | او دنیا | پس ما اُویرولئ تاسو | د اور

کار دے۔ او آخرت او دُنیا دواړه زمونږ په قبضه کښے دی۔ نو ما تاسو د هغه اور نه اُویرولئ

تَلَظّٰی ﴿۱۴﴾ لَا یَصْلٰىهَآ اِلَّا الْاَشْقَی ﴿۱۵﴾ الَّذِیْ کَذَّبَ وَتَوَلّٰی ﴿۱۶﴾ وَسَیُجَنَّبُهَا

لمبے وهونکی نه | نه به داخلیږی پکښے | مګر | ډیر بدبخته | هغه چہ | دروغ ئے وګڼل | او مخ ئے واړولو | او جدا به وی له دے نه

چہ لمبے وهی، په دے کښے به هغه بدنصیبه سوزی چہ انکار ئے کړے دے او مخ ئے اړولے دے او هغه نیکان به ترے

الْاَتْقَی ﴿۱۷﴾ الَّذِیْ یُؤْتِیْ مَالَہٗ یَتَزَکّٰی ﴿۱۸﴾ وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَہٗ مِنْ نِّعْمَۃٍ

ډیر پرهیزګار | هغه چہ | ورکوی | مال خپل | چہ دے پاک شی | او نشته د چا | په دهٔ باندې | څهٔ احسان

نه ایرخ ته ساتلے شی چہ خپل مال ئے د ځان د پاکولو د پاره ورکوی، او د دهٔ سره چا احسان کړے نهٔ وو چہ بدل

تُجْزٰٓی ﴿۱۹﴾ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰی ﴿۲۰﴾ وَلَسَوْفَ یَرْضٰی ﴿۲۱﴾

چہ د دے بدله ورکړے شی | مګر | لټولو له ئے | رضامندی | د رب خپل | چہ لوئے دے | او ډیر زر به | خوشحاله شی

ئے خلاصولو، خو د خپل لوئے رب رضامندی ئے لټوله، او ډیر زر به (د خپل رب نه) راضی شی۔

سُوْرَۃُ الضُّحٰی مَکِّیَّۃٌ وَّهِیَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | اِحْدٰی عَشْرَۃَ اٰیَۃً وَّ رُکُوْعٌ وَّاحِدٌ

سُورہ ضحیٰ په مکه کښے نازل شو | (شروع) د الله په نامه چہ لوئے مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے ۱۱ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع چہ لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

وَالضُّحٰی ﴿۱﴾ وَالَّیْلِ اِذَا سَجٰی ﴿۲﴾ مَا وَدَّعَکَ رَبُّکَ وَمَا قَلٰی ﴿۳﴾

قسم دے د وړمبی رڼا | او په شپه | هر کله چہ | هغه راخوره شی | چہ نهٔ ئے پریښے ته | ستا رب | او نهٔ در نه خفه دے

قسم دے د ثابت په وخت، او په شپه هر کله چہ راخوره شی چہ نهٔ خو ته خپل رب پریښے ئے او نهٔ در نه ناراضه دے۔

وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ۝٤ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ

او البته آخرت | بهتر دے | تا ذپاره | له دُنيا نه | او ډير زر به تا ته دركړي | ستا ربّ

او تا دَ پاره آخرت دَ دُنيا نه ډير بهتر دے . او ډير زر به درله الله تعالىٰ دومره څهٔ دركړي چه

فَتَرْضٰى ۝٥ اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۝٦ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۝٧

چه ته راضي شے | آيا دهٔ وَنهٔ موندلے تهٔ | يو يتيم | بيا ئے ځائے دركړو | او بيائے وَموندلے تهٔ | بے خبره | بيا ئے دَرلاره وَښودله

رضا به شے . آيا الله تعالىٰ ته يتيم بيا نهٔ موندلے؟ نو ځائے ئے دركړو ، او بے لارې ئے وَموندلے نو لار ئے درته سمه كړه

وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ۝٨ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝٩ وَاَمَّا السَّآئِلَ

او بيائے وَموندلے تهٔ | ضرورت مند | نو غنى ئے كړے | پس څوک چه | يتيم دے | (پہ دوئ) سختي مهٔ كوه | او كوم چه | سوال كوے ئے

او محتاج ئے وَموندلے نو مالدار ئے كړے ، نو يتيم ته قهر مهٔ كوه ، او سوال كړے

فَلَا تَنْهَرْ ۝١٠ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝١١

نو هغهٔ مهٔ رټه | او چه كوم | نعمت دے | ستا دَ رب | هغه بيان كړه

مهٔ رټه او دَ الله تعالىٰ نعمتونه هر چا ته آوَرَوه .

ع ١١/١٨

سُوْرَةُ اَلَمْ نَشْرَحْ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَمَانُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة الم نشرح په مكه كښے نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان ډير زيات رحم كوونكے دے | او په دے كښے اته آيتونه او يو ركوع ده

دَ الله په نامه شروع كوم چه ډير مهربان دَ ډير زيات رحم خاوند دے

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۝١ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۝٢ الَّذِيْٓ اَنْقَضَ

آيا مونږ نهٔ دے پراخه كړے | تا دَ پاره | سينه ستا | او مونږ لرے كړو | له تا نه | بوجه ستا | كوم چه | ماته كړے وه

آيا مونږ تا له ستا سينه نهٔ ده پراخه كړے ؟ او له تا نه مو هغه بار لرے كړے چه ستا ملا ئے ماته

ظَهْرَكَ ۝٣ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝٤ فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٥ اِنَّ

ملا ستا | او اُوچت كړو مونږ | دَ پاره ستا | ذكر ستا | نو بيشكه | هرے سختئ سره | آساني ده | بيشكه

كړے وه ؟ او ستا نوم مونږ دے اُوچت كړے ؟ نو بيشكه دَ سختئ سره آساني راځي . بيشكه چه

مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٦ فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝٧ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝٨

هرے سختئ سره | آساني ده | نو هركله چه | ته فارغ شے | نو محنت كوه په عبادت كښے | او طرف دَ رب خپل ته | بيا رغبت كوه

دَ سختئ سره آساني راځي ، نو هركله چه فارغ شے (دَ عبادت نه) نو بيا محنت كوه په عبادت كښے او خپل رب ته رغبت كوه .

ع ٨/١٩

سُوْرَةُ التِّيْنِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَمَانُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة تين په مكه كښے نازل شوے | (شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان ډير زيات رحم كوونكے دے | په دے كښے اته آيتونه او يو ركوع ده

دَ الله په نامه شروع كوم چه ډير مهربان دَ ډير زيات رحم خاوند دے

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۝١ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۝٢ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ۝٣ لَقَدْ

قسم دے په انځر | او په زيتون | او په طُور دَ سينا | او په دے | ښار (مكه) باندے | چه امن والا دے | بيشكه

قسم دے په اينځر او په ښونه او په طورِ سينا او په دے امانتګر ښار (مكه) بيشكه چه

خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿۴﴾ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ ﴿۵﴾

پیدا کړو موږ | انسان | په ډیره ښه | صورت کښې | بیا راوګرځولو موږ دی | ډیر ښکته له ټولو ښکته پاتې کیدونکو نه

موږ ده انسان په ښه معتدل شکل پیدا کړو ، بیا مو (د بد عمل په وجه) د لاندې نه لاندې مرتبې ته وغورځولو ـ

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿۶﴾

مګر هغه خلق چه | ایمان ئې راوړو | او عمل ئې وکړو | نیک | پس دوئ لره | اجر دے | نه ختمیدونکے ـ

خو خوک چه مؤمنان دی ، او نیک کارونه کوی نو هغوئ له داسے بدل لرمقرر دے چه نه به ختمیږی ـ

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ﴿۷﴾ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ﴿۸﴾

پس څه څیز | دروغجن کوی تا لره | پس له دې نه | د جزاء ورځې په باره کښې | آیا نه دے | الله | ډیر لوئے حاکم | د ټولو حاکمانو د پاسه

نو (اے انسانه!) د دې نه پس کوم څیز تا د جزاء د ورځې دروغ ګڼړلو ته آماده کوی آیا الله د ټولو حاکمانو د پاسه لوئے حاکم نه دے ؟

سُورَةُ الْعَلَقِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ | تِسْعَ عَشْرَةَ آيَةً وَرُكُوعٌ وَاحِدٌ

سورۀ علق په مکه کښې نازل شوې | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دې کښې نولس آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ﴿۱﴾ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴿۲﴾ اقْرَأْ

ولوله | په نامه | د رب خپل | هغه ذات | چه پیدا ئې کړل | پیدا ئې کړو | انسان | له چپکه وینې نه | ولوله

اے پیغمبره! د خپل رب په نوم قرآن لوله چه مخلوق ئې پیدا کړے دے ، انسان ئې د چپکه وینې نه پیدا کړے دے ته قرآن

وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ﴿۳﴾ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿۴﴾ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا

او ستا رب | ډیر زیات کریم دے | هغه ذات | چه ښوولې ئې دی | په قلم سره | زده ئې کړل | انسان ته | هغه څه

لوله او ستا رب ډیر کریم دے ـ هغه ذات دے چه د قلم په ذریعه ئې لیکل ښوودلی دی ـ انسان ته ئې هغه څه ښوودلی

لَمْ يَعْلَمْ ﴿۵﴾ كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ ﴿۶﴾ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ ﴿۷﴾ إِنَّ

چه هغه پرې نه پوهیدو | هرګز نه | بیشکه | انسان | سرکشی کوی | چه ووینی ځان خپل | بے پروا | بیشکه

دی چه ورته معلوم نه وو ، ربښتیا دا ده چه انسان له حده تیریږی ، هر کله چه ځان مالدار ووینی ، بیشکه ستا

إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ ﴿۸﴾ أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ ﴿۹﴾ عَبْدًا إِذَا

طرف د رب ستا ده | واپسی | آیا تا ولیدلو | هغه کس چه | منع کوی | یو بنده | هر کله چه

رب ته د هر چا واپسی ده ، تا هغه سړے ولیدو چه (د الله نیک) بنده د مونځ نه منع

صَلَّىٰ ﴿۱۰﴾ أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰ ﴿۱۱﴾ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَىٰ ﴿۱۲﴾ أَرَأَيْتَ

هغه مونځ کوی | آیا ولیدلو تا | که چرې هغه وی | په هدایت باندې | یا حکم ورکوی | د پرهیزګارئ | آیا تا ولیدلو

کوی ؟ ـ ګوره که دا (منع شوے) سړے په هدایت وی ـ یا د تقوٰی تعلیم ورکوی ، ګوره که دا (منع کوونکے)

إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿۱۳﴾ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ ﴿۱۴﴾ كَلَّا لَئِن

که چرې | هغه دروغ وګڼړی | او مخ واړوی | نو آیا دے نه پوهیږی | چه الله | ګوری | هرګز نه | که چرې

منکر وی او مخ ئې (د حق نه) ګرځولے وی ، آیا دے نه پوهیږی چه الله هر څه وینی ؟ | خبردار که دے

لَمْ يَنْتَهِ ۙ لَنَسْفَعًۢا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ

منع نهٔ شو دے | نو موږ به ضرور را کاږو | د تندی د ویښتو نه (په زور) | تندے | د دروغژن | خطا کار | نو راوُ دِ غواړی

منع نهٔ شو ، نو موږ به یے د څټوکی نه راکاږو ، هغه څټوکے چه دروغژن خطاکار دے ، نو دے دِ خپل

نَادِيَهٗ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا ۭ لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿١٩﴾ ع السجدة

د خپل مجلس خلق | موږ به راوُ بلو | د دوزخ فرښتے | هرگز نه! | مهٔ منه وینا د دهٔ | او سجده کوه | او نزدے شه

ملگری راوُ غواړی ، موږ به د دوزخ فرښتے راوُ غواړو ، خبردار! د دهٔ خبره وُ نهٔ منے او سجدے لگوه او الله ته ځان نزدے کوه

سُوْرَةُ الْقَدْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سوره قدر په مکه کښے نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے پنځهٔ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾

بیشکه موږ نازل کړو (دا قرآن) | په شپه د قدر کښے | او تا ته څهٔ معلومه ده | چه څهٔ ده | شپه د قدر؟

موږ دا کتاب د قدر په شپه نازل کړے دے ، او تا ته څهٔ معلومه ده چه د قدر شپه څومره (اوچته) ده؟

لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا

شپه د قدر | غوره ده | له زرو | میاشتو نه | ښکته راځی | فرښتے | او روح (جبرائیل) | په دے کښے

د قدر شپه د زرو میاشتو نه بهتره ده ، په دے کښے فرښتے او روح (جبرائیل) د الله په حکم هر

بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ مِنْ كُلِّ اَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلٰمٌ ۛ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾

په حکم | د رب خپل | د هر کار په حقله | ټوله سلامتی ده | دا قائمه | تر صبا ختو پورے وی

امر خیر سره راکوزیږی ، ټوله سلامتی ده ، دا شپه تر صبا ختو پورے قائمه وی .

سُوْرَةُ الْبَيِّنَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَمَانُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سوره بیّنه په مدینه کښے نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے اتهٔ آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم خاوند دے

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ مُنْفَكِّيْنَ

نهٔ وُو | هغه خلق | چه کافران دی | له اهل کتابو نه | او مشرکان | جدا کیدونکی

کافران اهل کتاب او مشرکان ټول (د خپل باطل دین نه) جُدا کیدونکی نه وُو ،

حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿١﴾ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتْلُوْا صُحُفًا

تر دے چه | راغے دوی ته | ښکاره دلیل | (یعنی) یو رسول | د الله له طرف نه | چه لولی | صحیفے

تر څو چه څرگند دلیل ورته راغلے نهٔ وے ، یعنی د الله رسول چه پاکیزه صحیفے ورته لولی

مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾ فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

پاکیزه | په هغے کښے | حکمونه دی | سم درست | او نهٔ | شول جدا | هغه خلق چه | ورکړے شوے وو

چه په هغے کښے سم درست (د دین) حکمونه لیکلی وی او کتابیان خو د هغے نه پس د یو بل نه جدا شوی وو

الۡكِتٰبَ اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ الۡبَيِّنَةُ ؕ﴿۴﴾ وَمَاۤ اُمِرُوۡۤا اِلَّا لِيَعۡبُدُوا

كتاب | مگر | پس له هغه نه | چه | راغے دوئ ته | ښكاره دليل | او حكم نه ؤ شوے دوئ ته | مگر دا چه عبادت دِ كوى

چه څرګند دليل ورته راغلے وو ، او دوئ ته خو فقط دا حكم شوے وو چه دَ الله

اللّٰهَ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ۙ حُنَفَآءَ وَيُقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ

دَ الله | په خالص كولو | دَهٔ دَپاره | دين | چه يو طرف شى | او چه قائموى دِ | مونځ

عبادت دِ كوى ، دين دِ خالص دَ هغهٔ منى ، دَ باطل نه دِ حق ته مخ گرځوى ، او مونځ دِ كوى

وَيُؤۡتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيۡنُ الۡقَيِّمَةِ ؕ﴿۵﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ

او وركوى دِ | زكوٰة | او هم دا دے | دين | مضبوط | بيشكه هغه خلق چه | كافران شول | له اهل كتابو نه

او زكوٰة دِ وركوى او هم دا رښتينے (سم) دين دے ، بيشكه چا چه انكار كړے دے كه اهل كتاب دى

وَالۡمُشۡرِكِيۡنَ فِىۡ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ؕ اُولٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ

او له مشركانو نه | په اور كښے (به وى) | دَ دوزخ | هميشه به وى | په هغه كښے | هم دا خلق دى | بدترين

اوكهٔ مشركان دى ، دَ دوزخ په اور كښے به تل ترتله پراته وى ، او دوئ په ټولو كښے خراب

الۡبَرِيَّةِ ؕ﴿۶﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ

مخلوق | بيشكه | هغه خلق | چه ايمان ئے راوړو | او عمل ئے وكړو | نيك | هم دا خلق دى | بهترين

خلق دى . بيشكه چا چه ايمان راوړے دے ، او نيك كارونه ئے كړى دى ، هغوئ په ټولو كښے ښهٔ

الۡبَرِيَّةِ ؕ﴿۷﴾ جَزَآؤُهُمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ جَنّٰتُ عَدۡنٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

مخلوق | بدله دَ دوئ | دَ دوئ دَ رب سره | باغونه دى | دَ هميشه اوسيدو | بهيږى به | لاندې دَ هغے نه

خلق دى ، دَ هغوئ بدله دَ هغوئ دَ رب سره دَ هميشه اوسيدو باغونه دى ، چه دَ هغے لاندې به ويالے

الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ رَضِىَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُوۡا عَنۡهُ ؕ ذٰلِكَ

نهرونه | هميشه به وى | په هغه كښے | هميشه | راضى شو الله | له دوئ نه | او راضى شول دوئ | له هغهٔ نه | دا (وعده)

بهيږى ، هميشه به په كښے اوسيږى ، الله به دَ هغوئ نه رضا وى او هغوئ به دَ الله نه راضى وى ، دا

ع ١ ٨ ٢٣ لِمَنۡ خَشِىَ رَبَّهٗ ﴿۸﴾

دَ هغه چا دَپاره ده | چه ويريږى | دَ خپل رب نه

(مرتبه) هغه چا دَپاره ده چه دَ خپل رب نه ويريږى -

سُوۡرَةُ الزِّلۡزَالِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِىَ | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ | ثَمَانُ اٰيٰتٍ وَّرُكُوۡعٌ وَّاحِدٌ

سوره زلزال په مدينه كښے نازل شوه | (شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان ډير زيات رحم كوونكے دے | او په دے كښے اتهٔ آيتونه او يو ركوع ده

دَ الله په نامه شروع كوم چه لوئے مهربان ډير زيات رحم خاوند دے

اِذَا زُلۡزِلَتِ الۡاَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ۙ﴿۱﴾ وَاَخۡرَجَتِ الۡاَرۡضُ اَثۡقَالَهَا ۙ﴿۲﴾ وَقَالَ

هر كله چه وخوزولے شى | زمكه | په خوزولو دَ هغے سره | او بهر ته راوباسى | زمكه | بوجونه خپل | او وائى به

كله چه زمكه زلزلے سره وخوزولے شى ، او زمكه خپل بارونه بهر ته راوباسى ، او انسان به ووائى

الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ۝٣ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ۝٤ بِاَنَّ رَبَّكَ

انسان | چه په دې څه شوي دي؟ | په دغه ورځ به | دا بيان كړي | خپل خبرونه | ځكه چه | ستا رب به

چه په دې ځمكه څه چل وشو؟ په دغه ورځ به ځمكه خپل ټول حالونه ووائي، ځكه چه ستا رب به

اَوْحٰى لَهَا ۝٥ يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۙ لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ۝٦

وحي وكړي | دې طرف ته | په دغه ورځ به | بېرته راوځي | خلق | ډلې ډلې | چه وښودلے شي دوي ته | عملونه د دوي

ورته حكم وركړے وي، په دغه ورځ به خلق ټولي ټولي راوځي، چه خپل عملونه ورته وښودلے شي

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝٧ وَمَنْ يَّعْمَلْ

پس څوك چه | وكړي | په اندازه | د يوې ذرې | نيكي | دے به هغه ووينى | او څوك چه | وكړي

نو چا چه د يوې ذرې هومره نيكي كړي وي هغه به ووينى، او چا چه د يوې ذرې هومره

مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝٨ ع

برابر | د يوې ذرې | بدي | هغه به (هم) دے ووينى

بدي كړي وي، هغه به ووينى،

ع ٨/٢٢

سُوْرَةُ الْعٰدِيٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سوره عاديات په مكه كښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زيات رحم كوونكے دے | او په دې كښې يوولس آيتونه او يو ركوع ده

د الله په نامه شروع كوم چه لوئے مهربانه د ډېر زيات رحم خاوند دے

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ۝٢ فَالْمُغِيْرٰتِ

قسم دے په تيز زغليدونكو اسونو | چه پرشيږي | بيا د اور په راويستونكو | چه ټوكه وجنګوي | بيا په حمله كوونكو

قسم دے په پوره وهونكو اسونو چه پرشيږي، نو په خپو وهلو د اور بڅري غورزوي نو د صبا په وخت په دښمن حمله

صُبْحًا ۝٣ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ۝٤ فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ۝٥ اِنَّ

د صبا په وخت كښې | نو اوچتوي | په دې سره | ګرد | بيا هغه دننه ورننوزي | د غه وخت | په فوج كښې | بيشكه

كوي، نو هغه وخت ګرد اوچتوي، نو د دښمن مېنځ ته ورننوزي، بيشكه چه

الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۝٦ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ۝٧ وَاِنَّهٗ لِحُبِّ

انسان | د خپل رب | ډېر ناشكره دے | او بيشكه دے | په دې (ناشكري) | ګواه دے | او بيشكه دے | په محبت كښې

انسان د خپل رب ناشكري كوي. او دے پخپله په دې خپلې ناشكري ګواه دے. او دے د مال په

الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ۝٨ اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِ ۝٩

د مال | ډېر سخت دے | پس آيا دے نه پوهيږي | هر كله چه راپاڅولے شي | هغه څه | چه په قبرونو كښې دي

مينه كښې ډېر سخت دے، آيا دۀ ته معلومه نۀ ده چه هر كله د قبرونو نه مړي راپاڅولے شي

وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُوْرِ ۝١٠ اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ۝١١ ع

او راښكاره كړے شي | هغه څه | چه په سينو كښې دي | بيشكه | رب د دوي | له دوي نه | په دغه ورځ | خبردار دے

او د سينو پټ رازونه څرګند كړے شي؟ نو په دغه ورځ الله تعالىٰ د دوي په حال ښۀ خبر دے.

ع ١١/٢٥

سُوْرَةُ الْقَارِعَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة قارعه په مکه کښې نازل شو | (شروع) د الله په نامه چه ډیر مهربان او ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې یولس آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان او ډیر زیات رحم خاوند دے

اَلْقَارِعَةُ ۙ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ۚ﴿۲﴾ وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ؕ﴿۳﴾ يَوْمَ

هغه ټکوونکے | څه ده هغه ټکوونکے؟ | او تا ته څه معلومه ده | چه څه ده هغه ټکوونکے؟ | په دغه ورځ

هغه ټکوونکے څه ده هغه ټکوونکے؟ او تا ته معلومه ده چه هغه ټکوونکے څه ده؟ په دغه

يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۙ﴿۴﴾ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ

چه وی به | خلق | په شان د پتنګانو | خوره شوی | او شی به | غرونه | په شان د وړی

ورځ به بنیادم د خوره وره پتنګانو په شان ګرځی، او غرونه به د شینډلے شوے رنګینې وړۍ غوندې

الْمَنْفُوْشِ ؕ﴿۵﴾ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ۙ﴿۶﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ

شینډلے شوے | پس | هغه څوک چه | درنے شوے | تلے (د نیکو) د ده | پس هغه به | په ګزران

الوزی، نو د چا (د نیکو عملونو) تول چه دروند وخیژی هغه به ښه په مزه کښې

رَّاضِيَةٍ ؕ﴿۷﴾ وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ۙ﴿۸﴾ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ؕ﴿۹﴾

خوره کښې وی | او | هغه | څوک چه | سپک شولے | تلے (د نیکو) د ده | نو د هغه ځائے به | هاویه وی

وی، او د چا (د نیکو عملونو) تول چه سپک وخیژی، د هغه ځائے به هاویه وی.

وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا هِيَهْ ؕ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ۠﴿۱۱﴾

او تا ته څه معلومه ده | چه څه ده هغه؟ | هغه اور دے | ګرم

او تا ته معلومه ده چه هاویه څنګه ځائے دے؟ هغه یو ګرم اور دے

سُوْرَةُ التَّكَاثُرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَمَانُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة تکاثر په مکه کښې نازل شوی | (شروع) د الله په نامه چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم کوونکے دے | په دې کښې اته آیتونه او یو رکوع ده

د الله په نامه شروع کوم چه لوئے مهربان د ډیر زیات رحم خاوند دے

اَلْهٰىكُمُ التَّكَاثُرُ ۙ﴿۱﴾ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ؕ﴿۲﴾ كَلَّا سَوْفَ

غافله کړی تاسو | د مال ډیرولو (حرص) | تر دے چه | ورسیدلئ تاسو | قبرونو ته | هرګز نه | زر به

د مال ډیرولو حرص تاسو غافل ساتی. تر دے چه تاسو قبرونو ته ورسیدئ، خبردار زر به

تَعْلَمُوْنَ ۙ﴿۳﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ؕ﴿۴﴾ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ

تاسو پوهه شئ | بیا | هرګز نه | زر به | تاسو پوهه شئ | هرګز نه | که چرے | تاسو پوهه شئ

پوهه شئ، بیا یاد لرئ زر به پوهه شئ، هرګز نه! که تاسو خپل انجام په یقینی طور پیژندلے

عِلْمَ الْيَقِيْنِ ؕ﴿۵﴾ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ۙ﴿۶﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا

په یقینی طور باندې | تاسو به خامخا وګورئ | دوزخ | بیا | خامخا به تاسو وګورئ هغه

نو (داسے به مو نه کول). تاسو به ضرور په خپلو سترګو دوزخ ووینئ، بیا به هغه خامخا د یقین

ع ٨ ٢٧

عَيْنَ الْيَقِيْنِ ﴿۷﴾ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ﴿۸﴾

دَ يقين په سترګه | بيا به | خامخا له تاسو څخه پوښتنه وکړے شي | په دغه ورځ | دَ نعمتونو په باره کښے

په سترګو ووينئ ، بيا به په دغه ورځ تاسو نه دَ نعمتونو په حقله تپوس کيږي.

سُوْرَةُ الْعَصْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَلٰثُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة عصر په مکه کښے نازل شوا او | (شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان او ډير زيات رحم کوونکے دے | په دے کښے درے آيتونه او يو رکوع ده

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډير مهربان او ډير زيات رحم خاوند دے

وَالْعَصْرِ ﴿۱﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴿۲﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

قسم دے په زمانه | چه بيشکه | انسان | خامخا په نقصان کښے دے | مګر | هغه خلق چه | ايمان ئے راوړے | او عمل ئے وکړو

قسم دے په زمانه چه يقيناً انسان ډير په تاوان کښے پروت دے سوا دَ هغه خلقو نه چه ايمان ئے راوړے دے او نيک

ع ١ ٢٨

الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿۳﴾

نيک | او يو بل ته ئے وصيت وکړو | دَ حق دين | او وصيت ئے وکړو | دَ صبر

کارونه ئے کړي دي او يو بل ته دَ حق تلقين کوي او صبر نه دَ کار اخستو تاکيدن کوي

سُوْرَةُ الْهُمَزَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | تِسْعُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة همزه په مکه کښے نازل شوا او | (شروع) دَ الله په نامه چه لوئے مهربان ډير زيات رحم کوونکے دے | په دے کښے نهه آيتونه او يو رکوع ده

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډير مهربان ډير زيات رحم خاوند دے

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِۨ ﴿۱﴾ الَّذِيْ جَمَعَ مَالًا

هلاکت دے | دَ هر | عيب کوونکي | غيبت کوونکي (دَ پاره) | هغه څوک چه | جمع کوي | مال

خرابي ده هر هغه چا دَ پاره چه طعنه ورکوي او غيبت کوي چه مال را جمع کوي او هغه

وَّعَدَّدَهٗ ﴿۲﴾ يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ﴿۳﴾ كَلَّا

او شميري هغه | دے خيال کوي | چه بيشکه | مال دَ دهٔ به | هميشه ژوندے وُساتي دے | هرګز نه

بيا بيا شميري. هغه دا خيال کوي چه دَ هغهٔ مال به هميشه دَ هغهٔ سره وي. هيچرے نه

لَيُنْۢبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿۴﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿۵﴾

دے به غورزولے شي | په "حطمه" کښے | او | تا ته څهٔ معلومه ده | چه حطمه څهٔ څيز دے؟

هغه به يقيناً په "حطمه" کښے غورزولے شي او تا ته معلومه ده چه حطمه څنګه ځائے دے

نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ﴿۶﴾ الَّتِيْ تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ﴿۷﴾ اِنَّهَا عَلَيْهِمْ

اور دَ الله دے | بل شوے | هغه چه | ور رسيږي به | زړونو ته | بيشکه هغه به | په دوئ باندے

(هغه) دَ الله تعالیٰ اور دے چه (دَ دهٔ په حکم) بل شوے دے چه زړونو ته به ورننوزي ، دا اور به ور باندے (دَ هر

ع ٩ ٢٩

مُّؤْصَدَةٌ ﴿۸﴾ فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿۹﴾

بند کړے شي | په دنګو دنګو ستنو کښے

طرف نه) بند کړے شي، په دنګو دنګو ستنو پورے (به تړلے شوي وي)

سُوْرَةُ الْفِيْلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورۂ فیل په مکه کښې نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې پنځهٔ آیتونه او یو رکوع دے

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربانه ډېر زیات رحم خاوند دے

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝١ اَلَمْ يَجْعَلْ

آیا نهٔ دی کتلی تا | چه څنګه | معامله وکړه | ستا رب | دَ خاوندانو دَ هاتیانو سره | آیا نهٔ وو کړے دهٔ

آیا تا ته معلومه نهٔ ده چه ستا رب دَ هاتیانو دَ خاوندانو سره څهٔ وکړل ؟ آیا الله تعالیٰ دَ هغوئ

كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝٢ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۝٣ تَرْمِيْهِمْ

تدبیر دَ دوئ | بے کاره | او رالېږل | په دوئ باندې | مارغان | تولی تولی | چه ویشتل یې په دوئ

تول تدبیرونه ناکامه نهٔ کړل ، او الله تعالیٰ په هغوئ تولی تولی مارغان رالېږل چه په هغوئ به ئے

بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝٤ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ۝٥

کانړی | په اور کښې دَ پخې شوې خټې جوړ شوی | نو خدائے کړل دوئ | په شان دَ بوسو | خوړلے شوو

دَ بره نه دَ کانړو ګټکی راویشتل ، بیا الله تعالیٰ هغوئ دَ خوړلے شوو بوسو په شان کړل

سُوْرَةُ قُرَيْشٍ مَّكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اَرْبَعُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سوره قریش په مکه کښې نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې څلور آیتونه او یو رکوع دے

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم خاوند دے

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝٢ فَلْيَعْبُدُوْا

عادت شوی دی | قریش | عادت شوی دَ دوئ | سفر سره | دَ ژمی | او دَ اوړی | پکار دی چه دوی عبادت وکړی

قریش عادت شوی دی - یعنی دَ ژمی او دَ اوړی دَ سفر سره عادت شوی دی ، نو هغوئ له پکار دی چه دَ دې

رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝٣ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ ۙ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝٤

دَ رب | دَ دې | کور | چا چه | طعام ورکړو دوئ ته | په لوږه کښې | او امن ئے ورکړو دوئ ته | له وېرے نه

کور (کعبې) دَ رب عبادت کوی چه دَ لوږے په حال کښې ئے روزی ورکړې ده او دَ هرے وېرے نه ئے په امان کړی دی

سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سَبْعُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سوره ماعون په مکه کښې نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم کوونکے دے | او په دې کښې اووهٔ آیتونه او یو رکوع دے

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان ډېر زیات رحم خاوند دے

اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝١ فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۝٢

آیا تا لیدلے دے | هغه څوک چه | دروغ ګڼړی | ورځ دَ جزا ؟ | پس هم دا دے | هغه کس چه | دېکے ورکوی | یتیم له

آیا تا هغه څوک لیدلے دے چه دَ جزا ورځ دروغ ګڼړی؟ دا هغه څوک دے چه یتیم له دېکے ورکوی

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝٣ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝٤

او ترغیب نهٔ ورکوی | دَ خوراک ورکولو | مسکین ته | پس تباهي ده | هغه مونځ کوونکو دَپاره

او مسکین ته دَ خوراک ورکولو ترغیب نهٔ ورکوی ، نو داسې مونځ کوونکو له بربادي ده۔

الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝۵ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝۶

چه هغوئ | له مونځونو خپلو نه | غافله دي | هغه خلق چه | ريا کوي

چه دَ خپلو مونځونو نه بے خبره دي (يعنې) هغه خلق چه رياکاري کوي

وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝۷ ع ۷/۲۲

او منع کوي | دَعام ضرورت څيز

او دَعام ضرورت څيز (حاجت مندله) نهٔ ورکوي

سُوْرَةُ الْكَوْثَرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | ثَلٰثُ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة کوثر په مکه کښے نازل شوه او | (شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان ډيرزيات رحم کوونکے دے | په دے کښے درے آيتونه او يو رکوع دَه

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډير مهربان دَ ډيرزيات رحم خاوند دے

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝۱ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝۲ اِنَّ

بيشکه | مونږ درکړو تاته | "کوثر" | پس مونځ وکړه | دَ خپل رب | او قرباني وکړه | بيشکه

يقيناً مونږ تاله ډيرخهٔ درکړي دي ۔ نو تهٔ خپل رب ته مونځ کوه ، او قرباني کوه بيشکه

شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۝۳ ع ۱/۲۳

دښمن ستا | هم دے دے | بے نامے بے ځنځے

ستا دښمن به بے نامے او بے ځنځے وي

سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سِتُّ اٰيَاتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة کافرون په مکه کښے نازل شوه | (شروع) دَ الله په نامه چه ډير مهربان ډيرزيات رحم کوونکے دے | او په دے کښے شپږ آيتونه او يو رکوع دَه

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډير مهربان دَ ډيرزيات رحم خاوند دے

قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝۱ لَاۤ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝۲

ووايه | اے | کافرانو ! | زهٔ عبادت نهٔ کوم | دَ هغه څهٔ چه | تاسو ئے عبادت کوئ ۔

تهٔ ووايه! چه اے کافرانو ! دَ کومو بتانو چه تاسو عبادت کوئ زهٔ دَ هغے عبادت نهٔ کوم ،

وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ۝۳ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ

او نهٔ تاسو | عبادت کوونکي يئ | دَ هغه چا چه زهٔ ئے عبادت کوم | او نهٔ زهٔ | عبادت کوونکے يم

او نهٔ تاسو دَ هغه الله عبادت کوئ دَ کوم چه زهٔ عبادت کوم ، او نهٔ به زهٔ چرے دَ هغه (معبودانو) عبادت کوم

مَّا عَبَدْتُّمْ ۝۴ وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ۝۵ لَكُمْ

دَ هغه څهٔ | چه تاسو ئے عبادت کوئ | او نهٔ تاسو | عبادت کوونکي يئ | دَ هغه چا چه عبادت ئے کوم زهٔ | تاسو دَ پاره

دَ کومو چه تاسو عبادت کوئ ۔ او نهٔ تاسو دَ هغه چا عبادت کوونکي يئ دَ کوم چه زهٔ عبادت کوم ، تاسو دَ پاره

دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝۶ ع ۱/۲۴

ستاسو دين دے | او ما دَ پاره | زما دين

ستاسو دين دے او ما دَ پاره زما دين ۔

سُوْرَةُ النَّصْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	ثَلٰثُ اٰيٰتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ
سوره نصر په مدينه کښې نازل شو	(شروع) دَ الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زيات رحم کوونکے دے	او په دې کښې درې آيتونه او يو رکوع ده

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان دَ ډېر زيات رحم خاوند دے

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝١ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ

هر کله چه راورسيږي | مدد دَ الله | او فتح | او تا وُليدل | خلق | چه ننوځي داخليږي | په دين کښې

څه وخت چه دَ الله مدد راورسيږي او (مکه) فتح (شوه) او تا وُليدل چه خلق دَ الله په دين کښې ډلے ډلے

اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ

دَ الله | ډلے ډلے | پس پاکي بيان کړه | په تعريف سره | دَ رب خپل | او معافي غواړه له هغهٔ نه | بيشکه هغه

راننوځي ، نو دَ خپل رب تسبيح او حمد وايه او دَ هغهٔ نه بخښنه غواړه ، بيشکه هغه

كَانَ تَوَّابًا ۝٣

دے | توبه قبلوونکے

توبه قبلوونکے دے.

سُوْرَةُ اللَّهَبِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	خَمْسُ اٰيٰتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ
سوره لهب په مکه کښې نازل شوې او	(شروع) دَ الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زيات رحم کوونکے دے	په دې کښې پنځه آيتونه او يو رکوع ده

دَ الله په نامه شروع کوم چه ډېر مهربان دَ ډېر زيات رحم خاوند دے

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝١ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا

مات دې شي | دواړه لاسونه | دَ ابو لهب | او هغه دې برباد شي | په کار رانغے دَ ده | مال دَ ده | او هغه څه چه

دَ ابولهب لاسونه دې مات شي او هغه دې برباد شي. دَ هغهٔ مال او دَ هغهٔ گټه دَ هغهٔ هيڅ په کار

كَسَبَ ۝٢ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣ وَّامْرَاَتُهٗ ؕ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝٤

ده وگټل | ډېر زر به دے داخل شي | په اور کښې | دَ شعلو والا | او دَ ده ښځه (هم) | اوچتوونکے | دَ خشاک

رانغله - زر به هغه شعله ناک اور ته ور ننوځي او دَ ده ښځه هم چه خشاک ئې اوچت کړے گرځي

فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝٥

په غاړه دَ هغې کښې | رسۍ ده | مضبوطه غښتلې

دَ هغې په غاړه کښې به يوه مضبوطه غښتلې رسۍ پرته وي.

سُوْرَةُ الْاِخْلَاصِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اَرْبَعُ اٰيٰتٍ وَّرُكُوْعٌ وَّاحِدٌ
سوره اخلاص په مکه کښې نازل شو	(شروع) دَ الله په نامه چه ډېر مهربان ډېر زيات رحم کوونکے دے	او په دې کښې څلور آيتونه او يوه رکوع ده

دَ الله په نامه شروع چه ډېر مهربان دَ ډېر زيات رحم خاوند دے

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝١ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝٣

وايه | هغه | الله | يو دے | الله | بې پروا دے | نه ئې اولاد زيږولے دے | او نه دے زيږولے شوے دے

(اے رسول!) ته وايه چه الله يو دے ، الله بې پروا دے ، نه دَ هغهٔ نه څوک پيدا دے او نه هغه دَ چا نه پيدا دے

وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾ ع ۱ ۲۷

او نشته | دَ دهٔ | برابر | څوک

او هیڅوک دَ هغهٔ سیال نهٔ دے

سُوْرَةُ الْفَلَقِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | خَمْسُ اٰيَاتٍ وَّ رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورۂ فلق په مکه کښے نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | او په دے کښے پنځهٔ آیتونه او یو رکوع ده

دَ الله په نامه شروع چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿۲﴾

وایه | زهٔ پناه غواړم | په رب | دَ صبا | له شر نه | دَ هغه څهٔ | چه دهٔ پیدا کړی دی

تهٔ وایه چه زهٔ دَ صبا دَ رب پناه غواړم. دَ هر هغه څیز دَ شر نه چه هغهٔ پیدا کړے دے،

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾ وَمِنْ شَرِّ

او له شر نه | دَ تیارے شپے | هر کله چه | هغه راخوره شی | او له شر نه

او دَ شپے دَ تیارے دَ شر نه هر کله چه هغه راخوره شی، او دَ جادو کوونکو ښځو له

النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ﴿۴﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾ ع ۵ ۲۸

دَ پوک وهونکو ښځو | په غوټو کښے | او له شر نه | دَ حسد کوونکی | هر کله چه | هغه حسد کوی

شر نه چه په غوټو باندے پوکی وهی، او دَ حاسد له شر نه هر کله چه په حسد کولو راشی

سُوْرَةُ النَّاسِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | سِتُّ اٰيَاتٍ وَّ رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورۂ ناس په مکه کښے نازل شو | (شروع) دَ الله په نامه چه ډیر مهربان ډیر زیات رحم کوونکے دے | و په دے کښے شپږ آیتونه او یو رکوع ده

دَ الله په نامه شروع چه ډیر مهربان دَ ډیر زیات رحم خاوند دے

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿۲﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿۳﴾

ووایه | زهٔ پناه غواړم | په رب دَ خلقو | بادشاه دَ خلقو | معبود دَ خلقو

تهٔ ووایه چه زهٔ دَ خلقو دَ رب پناه غواړم، دَ ټولو خلقو دَ بادشاه، دَ ټولو خلقو دَ معبود،

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ﴿۵﴾ الْخَنَّاسِ ﴿۴﴾ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ

له شر نه | دَ وسوسے اچونکی | دَ وروستو کیدونکی (له شی) نه | هغه چه | وسوسه اچوی

دَ هغه (شیطان) دَ شر نه چه وسوسه اچوی او وروستو کیږی، چه دَ خلقو په زړونو

فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿۶﴾ ع ۶ ۲۹

په سینو کښے | دَ خلقو | له پیریانو نه | او له انسانانو نه

کښے وسوسے اچوی هغه پیریے وی او که انسان۔

کتابت، زاہد حسین تاروجبہ تلمیذ سراج الاسلام اکوړه خټک ضلع نوښهره
مارچ ۲۰۰۳ء